# افغانستان د تاریخ په تګلوري کې

## (بشپړ لومړی او دوهم ټوک)

## د ((افغانستان در مسیر تاریخ)) ژباړه




تألیف: میر غلام محمد غبار

ژباړن: پوهاند محمد بشیر دودیال



د چاپ، ژباړې، خپرولو او طبع کولو
حق له حشمت خلیل غبار سره خوندي دی.



(د میوند خپرندویه ټولنه)



Scanned by CamScanner

ISBN 978-9936-8021-2-4
9 789936 802124

# افغانستان د تاریخ په تګلوري کې

(پښتو لومړی او دوهم ټوک)

د ((افغانستان در مسیر تاریخ)) ژباړه

تألیف: میر غلام محمد غبار
ژباړن: پوهاند محمد بشیر دودیال

بنګاه انتشارات میوند
کابل ـ افغانستان

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

# افغانستان د تاریخ په تګلوري کې

## (بشپړ لومړی او دوهم ټوک)

تألیف: میر غلام محمد غبار
ژباړن: پوهاند محمد بشیر دودیال

د چاپ، ژباړې، خپرولو او طبع کولو
حق له حشمت خلیل غبار سره خوندي دی.

(د میوند خپرندویه ټولنه)

Scanned by CamScanner

کتاب پېژندنه:

نوم: افغانستان د تاریخ په تګلوري کې (بشپړ لومړی او دوهم ټوک)

لیکوال: میرغلام محمد غبار

ژباړن: پوهاند محمدبشیردودیال

شمېر: ۵۰۰ ټوکه

چاپ کال: ۱۴۳۵هـ. س _ ۱۳۹۳هـ. ل _ ۲۰۱۴ م

خپروونکي: میوند خپرندویه ټولنه

چاپ: د میوند خپرندویې ټولنې مطبعه

کابل: د فارمسي ریاست ترڅنګ، افغان ترک لیسې ته مخامخ، سبا کتابخانه

ګرځنده ټیلفونونه: ۰۷۸۶۰۰۰۱۲۳، ۰۷۰۰۲۸۴۹۵۴

سبا کتابخانه پست بکس: ۱۲۷۸

پېښور: ډهګي نعلبندي، قصه خواني بازار، سبا کتابخانه-ټیلفون ۲۵۶۵۵۲۰

ګرځنده ټیلفونونه: ۰۳۰۰۵۹۴۶۳۲۹-۰۳۳۳۹۳۸۱۳۰۶

Box U.P.O. پست بکس ۷۹۵

E-Mail: maiwand.press@gmail.com

ټول حقوق محفوظ دي.

ISBN 978-9936-8021-2-4

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

# د میر غلام محمد غبار د (افغانستان د تاریخ په تګلوري کې)
# د لومړي او دوهم ټوک په هکله یادونه

افغانستان د تاریخ په تګلور کې لومړی ټوک چې د ۱۳۴۲ هـ. ش (۱۹۶۷ م) کال د تلې په میاشت کې له چاپ څخه وروسته، په کابل کې د هغه مهال د دولت لخوا توقیف شو. د تاریخي دورې له پیل څخه د شلمې پیړۍ تر دوهمې ربعې (د شاه امان الله د دورې تر پای) پورې (په ۸۵۲ مخونو کې) و.
(افغانستان د تاریخ په تګلور کې دوهم ټوک) یا جلد دوم افغانستان در مسیر تاریخ چې ددغه کتاب وروستی ټوک دی، د شلمې پیړۍ په دوهمه ربع کې د هېواد د ډېرو حساسو او له پېښو څخه د ډکو کلونو تاریخ (د نادر شاه د کورنۍ د واکمنۍ له دورې څخه د صدراعظم شاه محمود خان تر سقوط او د صدراعظم محمد داود خان تر دورې) بیانوي. دوهم ټوک په ۱۳۵۲ (۱۹۷۳م) کال کې د هغه د لیکل کېدو پر مهال په هېواد کې د ډېرو کلك استبداد له امله له چاپ پاتې شو. تر څو چې زه حشمت خلیل غبار په دې وتوانیدم، چې په هماغه بڼه یې چې زما پلار میر غلام محمد غبار د کتاب مؤلف راته پرېښی و او ماته یې وصیت کړی و، په ۱۳۷۸ (۱۹۹۹) کې د چنګاښ په میاشت کې د امریکې په متحده ایالاتو کې چاپ کړم، (په ۲۸۵ مخونو کې).
له نیکه مرغه دادی اوس ددې لار هواره شوه چې دواړه ټوکه (لومړی او دوهم) په یوه ټوک کې د مېوند خپرندویې ټولنې- سبا کتابتون کې چاپ کړم. باید ووایم چې افغانستان د تاریخ په تګلوري کې لومړی ټوک، لومړی ځل په کابل کې درې زره نسخې او څلور ځله له هېواد څخه بهر پنځلس زره نسخې چاپ شو. د هغه دوهم ټوك لومړی ځل په متحده ایالاتو کې پنځه زره نسخې چاپ شو. دغه نوي ټوك یې، ټول پرته له کوم بدلون او کوږوالي څخه د مؤلف د اصلي خطي نسخې سره سم، د افغانستان د مبارزو او مظلومو خلکو واقعي او علمي لومړنی تاریخ دی.

حشمت خلیل غبار

د ۱۳۷۸ مرغومی (۲۰۰۰- جنوري)

Scanned by CamScanner

# د ژباړونکې یادښت

(افغانستان در مسیر تاریخ) یو له هغو کتابونو څخه دی چې د هېواد د لیکل شویو تاریخونو په کتار کې اوچت ارزښت لري، کله چې څوك دغه کتاب ولولي نو خامخا ورته د هغه نه لوستل یوه لویه نمیګړتیا ښکاري، یعنې هر با سواد افغان باید خامخا دغه تاریخ ولولي؛ په تیره بیا په اوسني وخت کې چې له غرض څخه ډك لاسونه زمونږ مادي او معنوي ارزښتونه ته غځول شوي او خدای مه کړه ورو ورو داسې ورځ را نه شي چې مسخ شوی تاریخ وزمه لیکنې زمونږ د ځوانانو له ذهن څخه تاریخي ریښتیانې حقایق پټ کړي. زمونږ دغه ویره هغه وخت په خوښۍ بدله شوه چې دغه ډول ریښتیانې او علمي تاریخونه څو څو ځلې په زرګنو ټوکو چاپ شول، خو بیا هم یو ارمان هر چاته ورځې چې کاشکې دغه کتاب د هېواد په ټولو ژبو خپور شي. د همدغه ارمان د ترسره کیدو په خاطر مو وپتیله چې د افغانستان در مسیر تاریخ کتاب د (افغانستان د تاریخ په تګلوري کې) تر عنوان لاندې وژباړو. د میوند خپروندویې ټولنې له مقدمې ښاغلی عمرجان او له درانه علم پال ورور جناب نصیر صاحب څخه ډېره مننه کوم چې د دغې ژباړې اعتماد یې په ما وکړ او د دغه لوی کتاب د کمپوز او چاپ زیار یې په غاړه واخیست. میوند خپروندویې ټولنې له دې مخکې هم د هېواد د علمي زیرمې د بډاینې په لاره کې اوچت ګامونه اخیستي دي، لازمه بولم چې مننه ور څخه وکړم.

اروابناد میر غلام غبار زمونږ د هېواد د معاصر تاریخ یو له ویاړلو پېژندل شویو څیرو څخه دی، چې دهېواد پالنې،مترقي فکر، ملي تفکر او افغان روښانفکری غورځنګ د ټولو نیکو او غوره صفاتو په لرلو سره یې همدغه ارمانونه ځوان نسل ته په خپلو لیکنو کې لیږدولي دي. د اروابناد د عملي کارونو په هکله معلومات دهمدې کتاب په وروستۍ برخه کې راغلي دي، خو د کتاب پښتو ژباړې په هکله یو دوه ټکي روښانه کول غواړم:

د خپل ملي او وطني مسئولیت د حکم له مخې مې د کتاب د ژباړې دروند کار په ډېر ناوزګار

Scanned by CamScanner

مهال پیل کړ او څه ناڅه دري کاله وخت یې ونیو په دغه ژباړه کې مې نهایت امانتداري ته پام ساتلی دی او ټکي په ټکي ژباړې څخه تیر شوی یم، د هغې پر ځای مې روانه ژباړه کړې ده.

د پنځوسو کلونو په تیرېدو سره خامخا په لیکدود او د انشاء په طرز کې توپیر راځي له همدې امله د نوی لیکوالۍ اود طباعتي نویو تکنالوژیو د غوښتنې سره سم یو څه توپیرونه تر سترګو کېږي چې هغه باید هرومرو څرګند کړم. د بیلګې په توګه له نن څخه پنځوس کاله وړاندې اتازونی امریکې ته ویل کیده، خو نن ممکن زمونږ ځوانانو ته سوال پیدا شي. نو ځکه په ژباړه کې د امریکې په بڼه لیکل شوی ده، د بریطانیه پر ځای بریتانیا، د ایطالیا پر ځای ایتالیا او دې ته ورته د نن ورځې معمول لیکدود رعایت شو. په دې برخه کې زما مخې ته یو لوی تردد پروت و، یو د امانت نه ساتل او بل د نن ورځې لیکدود خو د دوستانو په مشوره دغه ډول اصطلاحاتو ترڅنګ په لومړی ځل دنن ورځې لیکدو په لیندیو کې راوستل شوی. خو وروسته بیا له دې څخه صرف نظر وشو.

د دري اصل کې کلونه او یو شمېر اعداد په لیندیو کې راغلي، خو په پښتو ژباړه کې ټول اعداد یې لیندۍ راغلي هیله ده دغه طرز لیکل د امانتدارۍ نه رعایت ونه بلل شي، بلکې له دې قصه څخه موخه د نن ورځې منل شوی طرز دی چې رعایت مو کړ.

په اصلي دري چاپ کې د کوچنیو عنوانو خواته دوه ټکي (شارحه) راغلي وه خو د ورځې طباعتي تکنالوژۍ په اسانۍ کولای شي عنوانه بولټ کړي د نن ورځې د روش سره سم د دوو ټکیو له ایښودلو صرف نظر وشو.

پخواني مقیاسونه لکه فرسنګ، فرسخ، ګز، من او نور ځکه تعدیل او په ننیو اوزانو بدل نه شول چې دغه اوزان استاد غبار له نورو اخځونو را اخیستي او ټوله جمله کټ مټ راوستل شوې ده.

له پورتنیو ټکو پرته مفاهیم په بشپړ ډول کټ مټ وژباړل شول، زه فکر کوم هر افغان ته په کار ده چې د غبار د افغانستان د تاریخ په تګلوري کې کتاب هرومرو د خپل کور په الماری کې ولري او هغه یې باید لوستی وي. پرته له هغه به یې د تیر تاریخ په هکله سترګې پټې وي، ویلای شو چې د وخت په تیرېدو سره د دغه کتاب ارزښت نور هم اوچتیږي، نو ارزي چې څو نسخې یې په پښتو هم وساتل شي مونږ د خپل وجدان په حکم خپل مسئولیت تر خپل وس ادا کړ، یوځل بیا له میوند خپرندیې ټولنې څخه مننه کوم.

په درنښت

پوهاند محمد بشیر دودیال

۲۸ - ۵ - ۱۳۹۲ لمریز

# فهرست


دالی

مخکنۍ خبرې ........................................ ۱

**لومړی څپرکی**

........................................ ۴

د افغانستان ننۍ بڼه ........................................ ۴

**لومړی**- فزیکي بڼه ........................................ ۶

**دوهم**- د هېواد پولې ........................................ ۹

**درېیم**- د هېواد تاریخي نومونه او بیرغ ........................................ ۱۱

**څلورم**- د هېواد نفوس ........................................ ۱۳

**پینځم**- ټولنیز وضعیت ........................................ ۱۷

**شپږم**- د هېواد فرهنګي وضعیت ........................................ ۱۸

**اووم**- عامه روغتیا ........................................ ۱۸

**اتم**- د هېواد اقتصادي وضعیت

**دوهم څپرکی**

........................................ ۳۵

افغانستان له ډېر پخوا څخه تر میلاد شپږ پېړۍ وړاندې ........................................ ۳۵

**لومړی**- ډېر پخوا ........................................ ۳۹

**دوهم**- د اویستال پر مهال


Scanned by CamScanner

### دریم څپرکی

د بهرنیو دولتونو لاسوهنې او د افغانستان د خلکو مبارزه (له میلاد څخه شپږ پېړۍ مخکې تر درې پېړۍ مخکې پورې) ۴۲
لومړی- افغانستان او هخامنشي دولت ۴۲
دوهم- افغانستان او د یونان دولت ۴۶

### څلورم څپرکی

د بهرنۍ واکمنۍ پای ته رسول او د افغانستان د خپلواکو دولتونو جوړول (له میلاد څخه درې پېړۍ مخکې تر شپږمې میلادي پېړۍ پورې) ۵۰
لومړی - افغانستان د یونانو باختري دولت پر مهال ۵۰
دوهم- افغانستان د کوشاني دولت پر مهال ۵۵
دریم- له کوشانیانو تر یفتلیانو ۵۹
څلورم- افغانستان د یفتلي دولت پر مهال ۶۱

### پنځم څپرکی

په افغانستان کې د ترک عناصرو راتګ او د ساساني دولت واکمن کېدل ۶۴

### شپږم څپرکی

د عربو واکمني او د افغانستان د خلکو پاڅونونه او مبارزه (له ۷ تر ۹ م پېړیو پورې)
لومړی- د اسلام راتګ ۶۷
دوهم- د (راشده وو خلفاوو) په دور کې د عربو نفوذ ۷۵
دریم- د اموي دولت په دوره کې په افغانستان باندې دعربو واکمني ۷۹
څلورم- د اموي دولت نړېدل او دافغانستان د خلکو د پاڅون بریالیتوب ۸۴
پنځم- د عباسي دولت په دوره کې د عربو د واکمنې دوام ۸۹
شپږم- د عربو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان ټولنیز اوضاع ۹۳

### اووم څپرکی

افغانستان له نهمې تر دیارلسمې میلادي پېړۍ پورې ۹۶
لومړی- د طاهري دولت پر مهال افغانستان ۹۶
دوهم- افغانستان د صفاري دولت پر مهال ۹۹
دریم- افغانستان او ساماني دولت ۱۰۹
څلورم- افغانستان دغزنوي دولت پر مهال ۱۱۷

Scanned by CamScanner

**پېنځم-** له لسمې څخه تر دولسمې پېړۍ پورې دافغانستان ټولنيز وضعيت ۱۲۹
**شپږم-** افغانستان او سلجوقي دولت ۱۴۳
**اووم-** افغانستان د غوري دولت پر مهال ۱۴۷
**اتم-** افغانستان او خوارزمشاهي دولت ۱۵۷

## اتم څپرکی

د اسلام تر خپرېدو څخه د چنګيز تر يرغل پورې د افغانستان اوضاع ۱۲۴
**لومړی-** ټولنيز طبقات ۱۲۴
**دوهم-** اقتصاد ۱۲۸
**دریم-** ښارونه ۱۷۱
**څلورم-** اداره ۱۷۳
**پېنځم-** مذهب ۱۷۷
**شپږم-** فرهنګ ۱۸۰

## نهم څپرکی

د مغلو يرغل او د افغانستان د خلکو پاڅون او مبارزه (ديارلسم ميلادي پيړۍ پورې) ۲۱۲
**لومړی-** د چنګيز خان ټکه ۲۱۲
**دوهم-** د بيا ځلې ژوند لپاره د خلکو هلې- ځلې (د کرت ملوک) ۲۷۲

## لسم څپرکی

افغانستان په څوارلسمې او پېنځلسمې ميلادي پېړيو کې ۲۹۰
**لومړی-** نوی يرغل ۲۹۰
**دوهم-** بيا ژوندون (د افغانستان ګورګاني دولت) ۳۰۹

## يوولسم څپرکی

د بهرنيو دولتونو د اغيز له امله د هېواد انحطاط او تجزيه او د افغانستان دخلکو مبارزه (د شپاړسمې پيړۍ څخه تر اتلسمې ميلادي پيړۍ پورې) ۳۲۸
**لومړی-** افغانستان او د ماورالنهر شيباني دولت ۳۳۰
**دوهم-** افغانستان او د ايران صفوي دولت ۳۳۲
**دریم-** افغانستان او د هند بابري دولت ۳۴۳
**څلورم-** د تجزيې او وېش په دوره کې د افغانستان ټولنيز وضعيت ۳۵۴
**پېنځم-** په ختيزه جبهه کې د افغانستان د خلکو آزادي غوښتونکې مبارزات ۳۶۰

Scanned by CamScanner

شپږم- د جنوب په جبهه کې د افغانستان د خلکو آزادي غوښتونکې پاڅون او مبارزه او په قندهار کې دهوتکي دولت تاسیس ..... ۳۲۹
اووم- په لویدیځه جبهه کې د افغانستان د خلکو آزادي غوښتونکې مبارزه او په هرات کې د ابدالي ملي حکومت تاسیس ..... ۳۹۵
اتم- افغانستان او د افشار دولت ..... ۴۰۸

## دولسم څپرکی

افغانستان له اتلسمې پېړۍ څخه تر شلمې پېړۍ پورې ..... ۴۱۴
لومړی- ابدالي دولت او د افغانستان بیا جوړېدل ..... ۴۱۴
دوهم- په افغانستان کې د انګرېز دولت سیاست ..... ۴۸۲
دریېم- په افغانستان کې د تزاري روس د دولت سیاست ..... ۵۵۵
څلورم- فیوډالي جګړې او د محمدزایي دولت جوړېدل ..... ۵۸۹
پېنځم- د انګلیس د دولت یرغل او د افغانستان د خلکو مبارزه ..... ۶۰۷
شپږم- افغانستان د ۳۵ کلن اوربند پر مهال (۱۸۴۳ - ۱۸۷۸ م) ..... ۶۷۱
اووم- د انګلیس د دولت دوهم تیری او د افغانستان د خلکو مبارزه ..... ۷۳۷
اتم- د فیوډالي سلطنت تمرکز او د آزادي غوښتونکي غورځنګ پیل ..... ۷۷۰
نهم- نوی بدلون او د ارتجاعي څواکونو غبرګون ..... ۹۰۰
د اخځونو لیکلړ ..... ۱۰۱۲

Scanned by CamScanner

# ډالۍ

د افغانستان هغو مبارزو وطنپالو ته، چې د هېواد تاریخي او ټولنیزو شرایطو دوی د ټولنې د نوي ژوند د ډاډمن کیدو په خاطر د نویو غورځنګونو د لښکر په سر کې درولي دي.

م. غبار

Scanned by CamScanner

# مخکنۍ خبرې

سره له دې چې د بشري ټولنو د بشپړتیا په بهیر کې، د تاریخ لیکلو بڼې هم بشپړتیا موندلې ده او نن ورځ تاریخ لیکنه د هر اړخیز تعلیل او تحلیل پر بنسټ پر مخ ځي. نور نو تاریخ یواځې او یواځې د ډېرو حیرانوونکو او ناسمو پیښو او د ګوتو په شمار کسانو د کارنامو په ضبط پورې نه دی ایسار. دا ځکه چې نور هغه وختونه تیر شوي دي چې انسان به د ټولنې او چاپېریال په منظر کې حیرانوونکې ځېزونه لټول او د ماورای طبیعت په بې پایه سمندر کې به ډوب و. نو په دې توګه دغه بشپړتیا او بدلون دا نه غواړي چې هرو مرو به پر هر وخت کې هماغه پخوانی کارونه سم وي. د تاریخ د تدوین عامل انسان دی او انسان بیا په خپله د خپل ځان د ټولنیزو شرایطو محکوم دی.

هغه بدلونونه چې په نوی پېړۍ کې په ټول ټولنیز ژوند کې راغلي بیلا بیل نوی ځېزونه ور څخه پیدا شوي چې په پایله کې دل ویدیزې پانګوالۍ د رامنځته کیدو لامل شوي. دا په پای کې د ملیتاریزم تر سیوري لاندې په یو پراخ امپریالیزم بدل شو چې پایله یې د نړۍ د پراخو سیمو ځبېښل و، ددغه سیستم بریالیتوب د انسان پر ژوند او د هغه په هنر. تاریخ او ادب باندې هم اغیزه وکړه او تاریخ نوې بڼه مونده او لکه د هنر په شان یې سوداګریزې جامې واغوستې.

کله چې د اروپا د نیشنلیزم ناروغي له پانګوالۍ سره یو ځای شوه. د نړۍ سیاسي تاریخ هم بیلارې بڼه وموندله او د بیلا بیلو هېوادونو تاریخ لیکونکو ټولې ښیګنې خپل هېواد پورې او ټولې نیمګړتیاوې په مقابل هېواد پورې وتړلې. سره له دې کله چې د اروپا نیشنلیزم له ختیځو ملګونو سره مخامخ کیده، د لویو وچو د فاشیزم په خیره کې را څرګند شو. نور نو دوی اروپا د ازل له ورځې د نړۍ د فرهنګ او تمدن زېږوونکې او پالونکې بلله او ختیځ یې د تل لپاره وحشي او د مدنیت دښمن وباله. حال دا چې ختیځ د نړۍ تر ټولو د لرغونو تمدنونو ځای دی. دا یرغل کوونکې اروپا وه چې خپل نوی تمدن او پوهه یې د ختیځوالو د صنعتي او کرنیزې شتمنۍ د لوټ کولو او ویجاړولو په خاطر په کاروله او د هغوی د طبیعي بشپړتیا په لاره کې خنډ شوله. البته د ختیځ خلکو د اروپا د ښکیلاک په وړاندې له مبارزې لاس وا نه خیست او اوس هم په آسیا او افریقا کې ددغې مبارزې بڅرکې شته. د افغانستان خلک د ښکیلاک په ضد تر ټولو کلک دي چې له نولسمې پیړۍ راهیسې د ښکیلاک د فرهنګي یرغل او سیاسي لوټنې سره مخامخ دي. موږ په آسیا کې د لویدیز له دوه ډلو تاریخ لیکونکو سره مخامخ یاستو: یو یې رینښتیانی پوهان دي او بله ډله یې د لویدیځ ښکیلاک پورې تړلې. لومړۍ ډله هغه کسان دي چې د ملتونو د حالاتو په څیړنه کې یې همت کړی. د ختیځ په علم، پوهه، تاریخ، فرهنګ او ژبه کې یې په ژوره توګه مطالعه کړې او د هغوی تر خاور لاندې مدنیت یې بیا را ژوندی کړی. د بشریت دغه پوهان د نړۍ د سم تمدن او کلتور حاصل بلل کیږي. د نړۍ علومو ته یې خدمت کړی چې په دې لړ کې یې د بین النهرین تاریخ، د

مصر ، افغانستان او ایران تاریخونه لیکلي
بلهډله هغه کسان دي چې یا اصلاً د ختیځ په تاریخ نه پوهیږي او د لویدیځ د ښکیلاکګرو لیکوالو اغیزې لاندې دي او یا هم د ختیځوالو د ښکیلاك په خاطر د لویدیځوالو د سیاست په لاره کې چوپړ کوي هغه سیاست او ښکیلاك چې د مسیحیت عصبیت او د لویو وچو فاشیستي ملاتړ ورسره او د دوی په سیاسي او اقتصادي هیلو کې یې زیاتوالی راوستی دی. پایله یې دا شوه چې د آسیا د ملتونو تاریخ د دوی د لویو او ناوړه غرضونو وسیله شوې او هغه یې جعل او تحریف او کوږ کړی او د واقعیاتو پرمخ یې د درواغو پرده اچولې ده
په دې لړ کې افغانستان هم تردې ډول یرغل لاندې راغلی او نړۍ ته په دې ډول ور پيژندل شوی دی دا یو نوی هېواد دی چې د دوو ښکیلاکګرو هېوادونو یعنی انګلستان او تزاري روسیې ترمنځ د څواك د تعادل په خاطر نوي جوړ شوی دی (البته د هندوکش لړۍ او د آمو سیند او هیرمند له دغه حکم څخه جلا دی)، دغه نوی هېواد چې له زرګونو قومونو څخه جوړ دی او په هغه کې په لسګونو مذهبونه او ژبې شته. تاریخ یې له اتلسمې پیړۍ څخه نه اوړي او... او... او... دغه د ښکیلاکګرو تبلیغ او تلقین چې د هغو لپاره په تیره بیا انګریزانو ډیر زیات کتابونه لیکلي دي. وروسته بیا د نورو لویدځو لیکوالو لپاره لارښود و ګرځیدل او آن دا چې زمونږ د آسیایي ګاونډیانو په لیکنو کې یې هم د یوه ساري خپریدونکي ناروغۍ په توګه اغیزه کړې ده
خو د افغانستان خلك چې د هېواد د تاریخي بشپړتیا اصلي عامل دي. لکه هغسې یې چې د یو نیم زر کلونو په ترڅ کې د فیوډالي ضد پاڅونونو او بهرنیو ښکیلاك ضد مبارزو په ترڅ کې له ستونزمنو پړاوونو ځان تیر کړی و. په نولسمه پیړۍ کې یې هم د ښکیلاکګرو د تیریو په وړاندې منګولې ورکړې او دښمن ته د حاکمه طبقې د تسلیم کیدو او ماتې سره سره یې دښمن له هېواد څخه شړلی دی نو ځکه د فیوډالي نظام تسلیمېدل او د ښکیلاکګرو د کلکو ګوذارونو سره یو ځای د ټولنې د ژوند چارې ډب سره مخامخ وې. په دې توګه افغانستان د شلمې پیړۍ په ترڅ کې هم د نړۍ د تر ټولو وروسته پاتې هېوادو په کتار کې دی. مونږ د خپل هېواد تیر تاریخ ددې لپاره لولو چې د خپلې نن ورځې وضعیت ډیر ښه و پیژنو ، تر څو د افغانستان ځوان مبارزین مخ په وړاندې د مبارزې کرښه په هوښیارۍ سره په ښه توګه غوره کړای شي. دا ځکه چې همدا تاریخ دی چې د یوې ټولنې بشپړتیایي تګلوری په رڼا کې را ښیي. هیڅ شك نشته چې د تاریخ په علمي مطالعه کې. تاریخي بنسټیزې دورې هغه وخت پیژندل کېږي چې د ټولنې سیاسي. اقتصادي او ټولنیز نظام له بنسټ څخه بدلون ومومي او نوی نظام د زاړه نظام ځای ونیسي. خو په یوه ځانګړې پړاو کې هم سره ورته او یو بل سره په تضاد کې جریانات او پیښې را منځته کېږئ او په پایله کې یوه په بلې اوړي البته د مطالعې د آسانۍ لپاره، د یوې تاریخي دورې بېلا بېل جریانات. تر بیلا بیلو عنوانونو لاندې تشریح کېږي نو په دې توګه د کتاب د څپرکیو او عنوانونو (سرلیکونو) ویشل د بیلا بیلو دولتونو تر نوم لاندې. او په بیلا بیلو نیټو او همدارنګه د دولتونو سیاسي فعالیتونو ذکر کول چې د لارښوونکو او مشرانو په ارزښت کې یې لرې همدې موخې ته در

Scanned by CamScanner

سیدلو په خاطر په مطالعه کې د آساني لپاره کېږي. خو د یوې ټولنې اصلي جوړوونکي د هغې ټولنې خلك دي

باید وویل شي چې دغه کتاب د افغانستان د هېواد د ټولنیز تاریخ په پرتله د هغه پر سیاسي تاریخ ډېره ډده لګوي. دا ځکه چې په منځنی آسیا کې د یو هېواد ټولنیز تاریخ د ټولې منځنی آسیا د ټولو هېوادونو ټولنیز تاریخ سره تړلی دی دا ځکه چې دغه ټول هېوادونه سره له دې چې بېلا بېلې ژبې، نژادونه، مذهبونه او نور لري، خو بیا هم د پېړیو پېړیو په ترځ کې د یوه ګډ تمدن او هڅووب په سیوري کې اوسیدلي دي او د هر بهرني تیري کوونکي په وړاندې یې یو شانته د دغه هڅووب ساتنه کړې ده. د همدې حقیقت په پام کې نیولو سره کولای شو چې د ټولې منځنی آسیا (افغانستان، ایران، مرکزي آسیا او شمالي هندوستان) تاریخ ولیکو. دا په داسې حال کې چې د نولسمې پېړۍ د ښکیلاك یمراث او د اوسني ملي عصبیتونو سیاسي بهیر ددې ګام د اوچتیدو مخه نیسي خو یو وخت ددې امکان شته چې ددغو لویو ولسونو ریښتیاني استازي به د ترك، مغولو او نورو په ګډون دغو خنډونو ته و نه ګوري او د منځنی آسیا د ملتونو د ټولنیز تاریخ په تدوین سره به د ټولې آسیا د تاریخ د تدوین لپاره لاره هواره کړي. نو د اوس لپاره سمدستي دغه کتاب د افغانستان د تاریخ په پېښو پورې تړلی چې ځینو ځایونو کې له شاو خوا پېښو سره د اړیکو له امله یو تفصیل هم پیدا کوي. په پیل کې داسې بریښیي چې له موضوع څخه به بهر وي. حال دا چې د افغانستان د اصلي تاریخ په هکله څېړکي او فصلونه لنډ او کوچني دي، دا ځکه چې د هېواد د تاریخ د هرې لړ لیکل شوې موضوع څېړنه په خپله د ډېرو زیاتو ټوکونو غوښتنه کوي

دا هم یادوو چې د هېواد د پېښو نیټې او کلونه د نړۍ له تاریخي پېښو سره د اړیکو له امله او هغو سره د پرتله کولو په خاطر په عیسوی کلونو هم لیکل شوي دي چې نړیوال او عمومي اړخ لري زه خواشینی یم چې د چاپ د لګښتونو د زیاتیدو له امله نشم کولای د اړتیا وړ نقشې او انځورونه په دغه کتاب کې ځای پر ځای کړم همدارنګه د کتاب د ډېر پنډوالی له ویرې د تاریخي او جغرافیایي نښو فهرست ور سره یو ځای نه شو، خو له دې امله چې دا کتاب ځان پسې یو بل ټوك (دوهم ټوك) هم لري چې له ۱۹۲۹-۱۹۲۷ پورې د افغانستان پېښې پکې راغلي دي. ممکن دغه نیمګړتیا په دغه دو هم ټوك کې بشپړه شي

ددغو کرښو په پای کې ددې ټکی یادونه اړینه بولم چې ددغه کتاب د لیکلو پر مهال له خپل زوی حشمت خلیل غبار څخه په تیره بیا د بهرنیو اخځونو او سرچینو په ژباړه کې د هغه له مرستو څخه خوښ او منندوی یم

میر غلام محمد غبار

کابل ښار- ۱۹۲۷ جون

Scanned by CamScanner

# لومړی څپرکی

## د افغانستان نننۍ بڼه

## لومړی

## فزیکي بڼه

افغانستان یو غرنی هېواد دی. د هندوکش د غرونو لړۍ یې شمزۍ ده چې له شمال ختیځ (کوچنی پامیر) څخه مخ په جنوب لویدیځ لوري (د هریرود منځنۍ درې) پورې د شپږ سوو کیلو مترو په اوږدوالی غځېدلی دی، د سلیمان غر له شمال لوري څخه مخ په سهیل پروت دی، په ختیزه سیمه کې د وزیرستان سیمه او جنوبي څانګې یې په بلوچستان کې د بلوچستان او سند سیمه یو له بل څخه جلا کوي ددغې اوږدې لړۍ اوږدوالی هم د شپږ سوو کیلو مترو شاوخوا کې دی. همدارنګه یو شمېر نور غرونه هم شته چې له ختیز څخه مخ په لویدیز لوري غځېدلي دي لکه بابا غر چې په ځینو سیمو کې یې لوړوالی تر پنځه زره مترو پورې رسیږي، او سپین غر. تور غر دغه دوه پرته له هغه سپین غر او تور غر څخه دي چې د هېواد ختیز کې د کابل د حوزې او کرمې ترمنځ غځېدلي دي.

همدا د غرونو لړۍ دي چې د افغانستان دننه یې درې او ناوې جوړې کړې دي په داسې حال کې کې چې هوارې ځمکې د یوې کړۍ په توګه د هېواد شاو خوا پرتې دي. د هېواد عمومي بڼه له شمال ختیځ څخه د جنوب لویدیځ خواته د یو ځوړ په بڼه ده، چې د پامیر په واورو ډکو څوکو کې میلان شل زره فوټه او د سیستان په دښتو کې یو نیم زر فوټه لوړوالی لري. د همدغه غره مایلې برخې دي چې په شمال کې تر جیحون او په ختیځ کې تر سند پورې رسیږي د افغانستان اوبه په شمال کې مخ په آمو په ختیځ کې د سند په لورې او په جنوب لویدیځ کې د هامون خواته ځي. د ځمکې د مخ اوبه چې زیاتره له واوره لړوونکو څوکو څخه را بهیږي له ځمکې لاندې اوبو سره- که بڼه ګټه ور څخه واخیستل شي- د هېواد کرنې او د ځمکو خړوبولو ته بس او ژوند ته ډیرې مرسته کوونکې دي.

د افغانستان خاورې شکلنې او تر یوې اندازې پورې د مالګې لرونکې دی چې په عین وخت کې هم د کرنې او هم د ځنګلو وړتیا لري. آن دا چې د هېواد په ختیزو او جنوبي سیمو کې د تودو سیمو میوې روزل کیدای شي. د هېواد ونې- بوټې او څارویې هم غرني او هم د دښتو له ډولونو څخه دي. تر کومه چې د هېواد کانونه څرګند دي، دادي سپین زر او مس په پنجشیر کې. مس په فراه کې. وسپنه په بامیان

کې، نفت په سرپل کې، د ډبرو سکاره په صوف دره کې، مالګه په تالقان کې، مالګه، سره زر، لاجبر او ګوګړ په بدخشان کې، مس، کروم او وسپنه په کابل کې او ګوګړ په بلخ کې. خو د افغانستان زیات شمیر کانونه تر اوسه پورې نه دي سپړل شوي او کومه برخه چې اوس را ایستل کېږي ډیر لږ برخه او له تخنیکي پلوه د کار د لومړنیو وسایلو لرونکې ده. باید په پام کې ولرو، چې بشپړې او علمي پلټنې لا تر اوسه نه دي تر سره شوي

د افغانستان هوا وچه ده. په عین حال کې د هېواد په بېلا بېلو برخو کې او د شپې او ورځې ترمنځ توپیر لرونکی ده. په لوړو څوکو کې په لیندۍ او مرغومي (دسمبر - جنوري) کې تودوخه له صفر څخه ۱۰-۲۵ درجې ټیټه وي. خو په ټیټو سیمو کې بیا د سانتي ګراد له صفر درجې څخه نه کمېږي. همدارنګه په اوړي کې تودخه په بېلا بېلو سیمو کې د سانتي ګراد له مثبت ۳۸ څخه تر ۴۵ درجو پورې رسېږي افغانستان د هوا له پلوه د جنوب له لوري هند د سمندر له تودو څپو سره او د شمال له پلو د لویدیزې سایبریا له سړو څپو سره مخامخ دی. د هوا توپیر یې زیاتره په لوړوالی او ټیټوالی پورې او د غرونو د اوږدو لړیو د ویش او طبیعي عوارضو پورې تړلی، نه په عرض البلد پورې. د بېلګې په توګه ډیرې لوړې سیمې (چې له ۲۴۰۰ مترو څخه پورته دي) شپږ یا اوه میاشتې ژمی لري. لکه نورستان او هزاره جات سیمې او تر یوه بریده پورې بدخشان، خو هغه سیمې چې ۴۰۰۰ یا له هغه څخه زیات لوړوالی لري. تل واورې لري چې د اوسیدلو وړ نه دي د ۱۳۰۰ او ۲۴۰۰ مترو لوړوالي ترمنځ سیمې یو څه معتدله هوا لري او څلور ځانګړي فصلونه لري. ژمی یې د سانتي ګراد له صفر څخه ټیټ شل درجې او ورښت یې ۳۰۰-۴۰۰ میلي متره وي لکه کابل، غزني او کټواز او تر یو ځای پورې بدخشان او هزاره جات. هغه سیمې چې له ۹۰۰ څخه ۱۳۰۰ مترو پورې لوړوالی لري، تود اوړی او معتدل ژمی لري او ورښت یې تر ۲۰۰ میلي مترو پورې رسېږي. لکه د هندوکش د غرونو لمنې، د غور غرونه، د کندهار حوزه او د هریرود کوزې او برې درې هغه دښتې چې له ۹۰۰ مترو څخه ټیټې دي، د سوړوالی او تودوالي توپیر یکې زیات دی او د اورښت اندازه ۱۵۰ میلي متره کېږي او اوړی یې تود وي لکه د بلخ شمالي سیمې او د چغانسور په جنوب غرب کې او د کابل د کوزې برخې (لکه جلال آباد او پېښور) او نورې سیمې. د هوا دغه توپیرونه او طبیعي جوړښت چې یو بل څخه جلا جلا درې او ناوې یې جوړې کړې او په هغو کې د لارو ستونزې او د لېږدولو د وسایلو کمښت لیدل کېږي. د دې لامل شوی چې اقتصادي وروسته والی تر سترګو شي او فیودالي مناسبات لا هم واکمن او آن دا چې ځینو سمو کې اوس هم طبیعي اقتصاد لیدل کېږي او د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې یې د جامو، دودونو او نورو ترمنځ توپیر رامنځته کړی دی. نو ځکه د افغانستان د ملي یووالي د ډاډمن کیدو لپاره د خلکو د اقتصادي او ټولنیز ګډون د آسانتیا لپاره هڅې یوه حیاتي مسئله ده.

# دوهم

## د هېواد پولې

افغانستان په جنوبي آسیا کې پروت هېواد دی. شمال خواته یې جیحون (د هغه سرچینه د اورال او بحیرې) یوه طبیعي کانال په واسطه د خزر سمندرګي ته رسېږي) سیند دی. چې دغه هېواد له مرکزي آسیا څخه جلا کوي. له جنوب له لوري یې بلوچستان د عربو له سمندرګي سره نښلوي. ختیځ ته یې د سند دریاب دی، له ګلګت څخه تر هند سمندر پورې چې له کوچني هندوستان (هند او پاکستان) سره د هېواد پوله جوړوي. په لویدیځ کې د بلوچستان، سیستان او خراسان د ولایتونو په واسطه له ایران سره پوله لري او د شمال شرق له لوري د چین له شرقي ترکستان سره پوله لري. البته د هېوا دغه طبیعي او تاریخي پولې تل د دغه هېواد له سیاسي پولو سره برابرې نه وې. د بېلګې په توګه د یونانو باختري (له میلاد څخه دوه پېړۍ مخکې) کوشاني (دوهمه میلادي پېړۍ)، یفتلي (پنځمه میلادي پېړۍ)، صفاري (نهمه میلادي پېړۍ)، غزنوي (لسمه او یوولسمه میلادي پېړۍ)، غوري (دولسمه او دیارلسمه پېړۍ)، تیموري (پنځلسمه او شپاړسمه پېړۍ)، هوتکي او ابدالي (اتلسمه او نولسمه پېړۍ) په دورو کې د افغانستان سیاسي پولې. د وخت په توپیر - ځینې وخت د تارم وایلي (کاشغر) او کله هم د ترکستان یا ماورالنهر سره پولې ایسارې شوې او کله هم تر ایران او هندوستان پورې پراخه شوې دي ځینې وخت افغانستان له شمال او لویدیځو ګاونډیو (ماورالنهر او ایران) سره د یو هېواد په توګه پېژندل شوی و، د بېلګې په توګه د سامانیانو (نهمه او لسمه میلادي پېړۍ)، خوارزمشاهي (دیارلسمه پېړۍ)، امیر تیمور ګورګان (څوارلسمه پېړۍ) او د نادر افشار (اتلسمه پېړۍ) په دورو کې. ددې سرچپه، بیا ځینې وختونه د بهرنیانو د یرغل پر مهال د افغانستان پولې ډېرې کوچنۍ شوې دي او کله به هم دغه هېواد تجزیه شوی هم و. د بېلګې په توګه: د هخامنشیانو (له میلاد څخه شپږ پېړۍ مخکې)، پارتیانو (له میلاد څخه دوه او درې پېړۍ مخکې)، ساسانیانو (شپږمه میلادي پېړۍ)، صفویانو (شپاړسمه او اولسمه میلادي پېړۍ)، موریا کورنۍ (له میلاد څخه درې پېړۍ مخکې) بابریانو (شپاړسمه او اولسمه میلادي پېړۍ)، لویدیزو تورکانو (شپږمه میلادي پېړۍ) او د شیباني او د ماورالنهر استراخاني (شپاړسمه او اوولسمه میلادي پېړۍ) په دورو کې، په افغانستان کې هغه وروستی دولت چې د هېواد د سیاسي پولې یې له طبیعي پولو سره برابرې کړې، په اتلسمه میلادي پېړۍ کې ابدالي دولت و، خو په نولسمه میلادي پېړۍ کې د ابدالیانو په له منځه تلو سره او د محمدزایانو په راتګ سره، د افغانستان پولې له هر لوري څخه، په تیره بیا له ختیځ او جنوب لوري څخه پرې شوې او وار په وار کوچنۍ شوې تر څو چې اوسنۍ بڼه یې ونیوله او د سند دریاب له غاړو څخه را جلا شوې او هېواد وچې پورې ایسار شو. په دې توګه:

د شاه محمود ابدالي پر مهال: د خراسان ولایت د افغانستان په شمال مغرب کې په ۱۸۰۳ میلادي کې د ایران د قاجاري حکومت په لاس کې پریوت.

د اټك کلا چې د سند د ترغاړې ده، په ۱۸۱۲ کې د پنجاب سکه حکومت ته ور پرېښودل شوه د ملتان ولایت په ۱۸۱۸ کې د سکه حکومت ته ورپاتې شو

د محمد زاییانو په دوره کې

د کشمیر ولایت په ۱۸۱۹ کال کې پنجاب سره وتړل شو

د غازي خان دیره په ۱۸۲۱ کې پنجابیانو ونیو

د اسمعیل خان دیره په ۱۸۲۱ کې د سکه لاسو ته ولوید.

د پېښور ولایت په ۱۸۲۳ کې سکهانو ونیو

د سند ولایت په ۱۸۴۳ کې انګریزانو ونیو

د بلوچستان ولایت په ۱۸۵۴ - ۱۸۷۲ کلونو کې د انګریزانو له خوا ونیول شو

د مروې ولایت په ۱۸۸۴ کال کې تزاري روسیې دولت ونیو

د شال، فوشنج - کوژك. کورمې او لنډي کوتل پورې سیمې په ۱۸۷۸ کې د ګندمك د تړون له مخې د امیر محمد یعقوب خان له خوا انګریزانو ته ورکړل شوې

د سوات، باجوړ. چترال ولایتونه او دارنوی. وزیرو، د اورچاکي او چمن سیمې په ۱۸۹۳ کال کې د ډیورنډ د تړون له مخې د امیر عبدالرحمن له خوا انګریزانو ته ورکړل شوې پنجده په ۱۸۸۵ کې د تزارې روسیې لاس ته ورغله.

د سیستان ولایت (یوه برخه) په ۱۸۷۲ کې د انګریزي حکم هیئت له خوا ایران ته ورکړل شوه

اوسنۍ پولې:

د هېواد اوسنۍ پولې له پردیو سره د ځو ځو جګړو څخه وروسته بالاخره ورسته تر ۱۸۸۴ میلادي کال څخه تر ۱۹۰۵ کال پورې لاندنۍ بڼه غوره کړه.

د افغانستان او شوروي جماهیرو اتحاد پولې له شمال مغرب څنډو (د ذوالفقار له سیمې) څخه تر شمال ختیځ (پامیر) پورې د دوه زره کیلو مترو په اوږدوالي تاکل شوې چې له هغې څخه یې یوزر او درې سوه کیلومتره د آمو سیند طبیعي پوله ده د هېواد د شمال ختیځ په آخري څنډه کې. افغانستان د چین له نېواد سره د څه نا څه سل کیلو مترو په واټن پوله لري، چې د دغې سیمې لوړوالی ۱۹۰۰۰ - ۲۴۰۰۰ فوټه پورې دی او د افغاني خاوري عرض په ځینو برخو کې له ۱۰ - ۱۵ کیلومتره دی. له دې سیمې وروسته د افغانستان سرحدي کرښه له شمال څخه مخ په جنوب تر تورخم پورې او بیا له هغه ځایه د بلوچستان تر سر حد پورې غځلیدلی او بیا د جنوب لویدیځ لوري ته کږیږي، په دې پسې د ښوراوك جنوب او نوشکي او د هلمند ریګستان څخه تیرېږئ او د سیستان د ریګستان څخه مخ په لویدیځ د ایران تر پولو پورې رسیږي. او دا هماغه (د ډیورنډ مرداره کرښه) ده چې له پامیر څخه تر ملك سیاه غره پورې د افغانستان شرقي او جنوبي ولایتونه د هغو له شپږ میلیونه نفوس سره یو ځای د هېواد له تن څخه جلا او د افغانستان خلك یې د هغو له طبیعي پولو (د سند سیند) څخه بې برخې او د عربو له سمندر څخه یې لرې کړل

د ملك سياه له غره څخه وروسته د افغانستان او ايران پوله مخ په شمال تر ذوالفقار پورې غځيږي د شمال مغرب پوله مو له ذوالفقار سيمې څخه مخ په ختيځ د هندوکش د لړيو سره ستوي مخ په ختيځ غځيدلې ده اود جمشيدي د سيمې له شمال څخه پنځه ديرش ميله تيريږي او د چهل دختران په سيمه کې د کشك له سيند څخه اوړي او په شمال شرق کې د مرغاب سيند د مروچاق په سيمه کې دغه پوله جوړوي وروسته بيا د ترکمن له غرونو او شګلنو سيمو څخه تيريږي تر جيحون پورې رسيږي. کله چې د جيحون سيند سره ننبلي (خمياب) څخه تر ويکتوريا اوبو پورې په پامير کې. جيحون سيند له شوروي اتحاد سره د افغانستان پوله جوړوي. وروسته بيا د پولې دغه کرښه له پيچومو لرونکو غرونو څخه تيريږي. د چين له واورو ډکو غرونو (سرکول) ته رسيږي له ذوالفقار څخه تر سرکول پورې د افغانسان د سرحدي پولې اوږدوالی ۷۵۰ ميله دی له سرکول څخه سرحدي پوله مخ په لويديځ تاويږي اود هندوکش له غرونو سره په موازي توګه مخ په واخان په شمال ختيځ لوري تر پامير پورې رسيږي او په دې توګه د افغانستان خاوره له چين سره ننبلي له دې سيمې څخه وروسته سرحدي کرښه د چترال له لوړو غرونو سره يو ځای د نورستان خواته ور نژدې کيږي. د دورا غاښي ته نژدې چترال له دليخه سيند څخه جلا کوي او د چترال په جنوب کې د ارنوي ناوې سره يو ځای- له چترال سيند سره ننبلي او بيا د کونړ ناوې ته ورننوځي له دغه ځای څخه په ماريپچ بڼه مخ په جنوب ځي د مهمندو له سيمې څخه تر تيريدو وروسته د کابل په سيند اوړي او مخامخ د جنوب په لوري تورخم ته رسيږي له تورخم څخه سرحدي پوله د سپين غر خواته ځي د کورمې له ناوې څخه تاويږي او په پيواړ غاښي اوړي او د توچي شمال څنډو ته رسيږي له دې وروسته د وزيرستان له لويديزو برخو څخه تيريږي د ګومل له سيند څخه تيريږي د بلوچستان پولو سره ننبلي له دغه ځايه د سرحد خط مخ په جنوب لويديز ځي، د ښواروك له جنوب څخه اوله نوښکی څخه تيريږي او د هلمند شګلنو سيمو څخه تيريږي او بيا سيده د سيستان د ريګستان له منځه د لويديځ خواته د ايران پولو پورې ځي د ملك سياه غره څخه چې د ايران او افغانستان ترمنځ پوله ده، د دواړو هېوادونو سرحدي پوله تقريباً سيده تر ذوالفقار پورې ځي

د همدغو پولو دننه اوسنی افغانستان د ګرنويچ د نصف النهار او شرقي طول البلد د ۶۰ درجو، ۳۵ دقيقو او ۷۵ درجو او ۵۰ دقيقو ترمنځ او د شمالي عرض البلد د ۲۹ درجو، ۳۰ دقيقو او ۳۸ درجو او ۳۰ دقيقو ترمنځ د ۸۰۰۰۰۰ مربع کيلومترو په ساحه کې پروت دی چې پنځلس مليونه وګړي لري، د نفوسو ګڼوالی په منځني توګه په يو مربع کيلومتر کې ۱۹ تنه او د سرحداتو مساحت يې ۵۳۰۸ کيلومتره دی. د افغانستان جغرافيايي موقعيت چې د منځنۍ آسيا په څلور لارې کې واقع دی. د اقتصاد او سياست له مخې په دغه سيمه کې ډير زيات مهم دی. دا ځکه چې افغانستان د هند، ايران او منځنۍ آسيا د سره نښلولو سيمه ده.

# دریم
# د هېواد تاریخي نومونه او بیرغ

۱. آریانا: د افغانستان ډېر لرغونی نوم چې د اویستا (له میلاد څخه زر کاله مخکې) له وخته تر پېنځمې میلادي پیړۍ پورې، د یو نیم زر کلونو په ترځ کې دغه هېواد ته ورکړل شوی و. آریانا و چې د (آریا اوسیدونکی) معنا یې لرله. په اویستا کې دغه نوم د ایریانا [۱] په بڼه راغلی دی. چې د هغه په وړاندې بیا د توروپانا [۲] نوم و. یعنی تورياپي آریائیان چې له جیحون څخه پورې غاړه یې زوږ ژوند درلود. په هر حال؛ د افغانستان همدغه د ایریانا او آریانا نوم و چې وروسته بیاد پارسه (فارس) په هېواد کې د لیږ بدلون په راوستلو سره د (ایران) په بڼه و منل شو [۳].

۲. خراسان: د خراسان کلمه چې د لمر خاته او ختیځ معنا لري وروسته تر دریمې میلادي پیړۍ را پیدا شوه او له پېنځمې میلادي پیړۍ څخه تر نولسمې مسیحي پیړۍ پورې د یو نیم زرکلونو په ترځ کې د افغانستان نوم و.

۳. افغانستان: په نولسمه پیړۍ کې خراسان خپل ځای یو نوي نوم (افغانستان) ته پرېښود. په لسمه پیړۍ کې د (افغان) نوم چې عربي بڼه یې (اوغان) دی، د اسلامي لیکوالو په یو شمیر آثارو کې د هېواد د پښتنو اوسیدونکو یوې برخې ته په کار وړل شوې ده او ورو- ورو یې مفهوم پراخ شو چې په اتلسمه میلادي پیړۍ کې د هېواد ټولو پښتنو ته دغه نوم ورکړل شو. خو د افغانستان نوم لومړی ځل په دیار لسمه پیړۍ کې د هېواد یو شمیر ختیزو سیمو لپاره وکارول شو. په څوار لسمه پیړۍ کې دغه نوم په ځانګړې توګه د هېواد په ختیځ کې د سلیمان تخت او د هغه شاوخوا سیمو ته ورکړل شو. په شپاړسمه پیړۍ کې د کابل جنوبي سیمو د افغان د هېواد نوم واخیست، په اتلسمه میلادي پیړۍ کې د سند له سیند څخه تر کابلستان پورې او د کشمیر له شاوخوا څخه تر نورستان او کندهار او ملتان پورې د افغانانو د اوسیدو سیمه و بلل شوه. بالاخره په نولسمه پیړۍ کې (افغانستان) د دغه هېواد د رسمي نوم په توګه و منل شو.

د افغانستان بیرغ:

د افغانستان خلکو له ډېر پخوا څخه آن له اویستایي دورې څخه مخکې بیرغ پېژاند او هغه یې کاراوه. په هغه یوه سندره کې چې د باختر د لومړني پاچا (یاما) د لور (آریا) لپاره (ریشیانو) جوړه کړې وه او د مها باراتا- په یوې برخې (هری وانګشه) کې راغلې، د تاووس د بڼکې د بیرغ او د درې سرونو لرونکی

AIRYANA -۱

TORYANA -۲

۳- و ګورئ (آریانا) رساله د نامتو پوه او تاریخ لیکوال احمد علي کهزاد لیکنه- د کابل چاپ

Scanned by CamScanner

ساندې چې د لمر او سپوږمۍ نښه لرونکی بیرغ نوم راغلی دی. همدارنګه په اوېستايي دوره کې (درفشا- درفش) د بخدي (لرغوني بلخ) لوړ بیرغونه بلل شوي وو.

د وشهنامیانو په اسطوره کې هم د سیمرغ، ښامار، پړانګ او لیوه د نښه لرونکو بیرغونو یادونه شوې چې دا د پهلوانانو بیرغ و. د یو شمیر تاریخ لیکونکو په وینا د زردشتي افغانستان د بیرغ رنګ شین و. له اتمې پیړۍ څخه ورسته (د ابو مسلم له وخت څخه وروسته) د افغانستان بیرغ تور رنګ درلود چې د دوسرونو لرونکې نیزه باندې به رېبول کېد. په لسمه او یوولسمه پیړۍ کې (د غزنویانو پر مهال) د افغانستان بیرغ د زمري نښه درلوده او د شاهي بیرغ رنګ سور تاکل شوی و. په پنځلسمه پیړۍ کې رسمي بیرغ د سرو زرو رنګ درلود. له هغه څخه وروسته تر نولسمې پیړۍ، پورې رنګارنګ بیرغونه دود وو. په نولسمه پیړۍ کې بیرته د افغانستان د بیرغ رنګ تور او نښه یې محراب او منبر چې توره او ټوپک ور سره و وټاکل شو. په شلمه پیړۍ (۱۹۲۸) کې د هېواد د لویې جرګې له خوا د بیرغ رنګ تور، سور او شین او نښه یې غر او لمر و ګرځول شو. په ۱۹۲۹ کې بیرته د بیرغ نښه محراب او منبر او د غنمو وږی وټاکل شو چې تر نن ورځې پورې په همدې بڼه دی.

# څلورم

## د هېواد نفوس

د ۱۳۴۱ شمسي (۱۹۶۲) کال د یوې احصائیې له مخې. د افغانستان ټول نفوس له پنځلس میلیونه دوسوه او یو اویا زره او شپږ سوه او اوه اتیا تنو زیات ښودل شوی. په لاندې توګه:

| | |
|---|---|
| د کابل ولایت | ۱۲۳۲۳۷ |
| د کندهار ولایت | ۱۰۳۲۳۹۲ |
| د هرات ولایت | ۱۰۰۲۳۲۵ |
| د مزار ولایت | ۴۹۰۲۸۵ |
| د قطغن ولایت | ۹۸۸۱۲۰ |
| د ننګرهار ولات | ۱۳۰۲۵۷۰ |
| د پکتیا ولایت | ۷۲۹۷۲۳ |
| د غزنین اعلی حکومت | ۱۰۰۸۲۴۸ |
| د پروان اعلی حکومت | ۱۲۲۱۲۸۳ |
| د فراه اعلی حکومت | ۲۱۸۸۲۷ |
| د میمنې اعلی حکومت | ۴۳۵۵۱۸ |
| د بدخشان اعلی حکومت | ۳۱۲۵۷۴ |
| د شبرغان اعلی حکومت | ۳۹۵۵۲۰ |
| د ګرشك اعلی حکومت | ۳۰۴۴۲۸ |
| تالقان | ۴۸۱۳۰۱ |
| غورات | ۳۸۲۹۰۲ |
| ارزګان | ۵۰۵۴۱۸ |
| بامیان | ۳۴۳۲۲۴ |
| کوچی او کوچی دوله قبایل | ۲۴۵۷۷۴۵ |
| | ۱۵۲۷۱۲۸۷ |

له دغو پنځلس میلیونه او درې لکه نفوسو څخه یوولس میلیونه (په سلو کې نوي) یې د هېواد په کلیو کې ژوند کوي. دوه نیم میلیونه نور یې کوچیان دي چې په موسمي کلیو او کېږدیو کې اوسېږي. له همدې امله نن ورځ د کوچیانو میشت کول او ده شین کولو ستونزه- له ټولنیزو او اقتصادي غوره توبونو له مخې- یوه مهمه او د حل غوښتونکی موضوع ده. یو میلیون وګړي (په سلو کې له لسو څخه

لږ) په ښارونو کې اوسیږي

د رسمي احصائیو له مخې په هرو زرو تنو کې د مړینو شمیر ۹.۷۴ او د زیږیدنو شمیر ۲۹.۵۲دی د یو شمیر بهرنیو متخصیصنو د احصائیې له مخې په هرو زرو تنو کې مړینې ۲۵ او زیږیدنې ۳۰ تنه ښودل شوي دي چې په دې توګه د نفوسو زرو تنو کې کلنی زیاتوالی د پنځو تنو شاوخوا کی دی. دا ځکه چې د خلکو مادي ژوند ډیر کران او د روغتیا ساتنې وسایل لږ او نیمګړي دي. نو په ماشومانو کې د مړینې کچه لوړه ده. د نارینه و شمیر د ښځو په پرتله په سلو کې د دوو شاو خوا زیات دی په کوچیانو کې د ښځو په پرتله د نارینه و د شمیر زیاتوالی ډیر لیدل کېږي. نو د ودونو شمیر یوې ښځې په محدودولو د هېواد یوه مهمه مسئله ده.

# پنځم
# ټولنیز وضعیت

## د افغانستان ملي ژبه

الف- دري ژبه: د هېواد په لویدیزو، شمالي او مرکزي ولایتونو کې او په ټولو ښارونو کې خلک په دري ژبه خبرې کوي

ب- پښتو: په ختیزو، جنوبي او جنوب لویدیزو ولایتونو کې خلک په پښتو خبرې کوي ددغې ژبې د ویونکو شمیر د دولسو میلیونو تنو په شاوخوا کې دي چې نن ورځ یې شپږ میلیونه د ډیورنډ د مصنوعي کرښې او د سند د رود ترمنځ اوسیږي

ج- ازبکي ژبه: په دغه ژبه باندې د هېواد په شمال کې څه نا څه یو میلیون تنه (د ترکمنو په ګډون) خبرې کوي چې له هغو څخه درې سوه زره تنه یې په ترکمني غږیږي

د هېواد یو شمیر نورې ژبې سیمه ییزې دي لکه نورستاني او بلوڅي. چې لومړنۍ یې د هېواد په شمال ختیځ کې څه نا څه سل زره ویونکې لري او بله یې په جنوب لویدیځ کې څه نا څه اویا زره ویونکې لري. خو د ټول افغانستان عمومي ژبې پښتو او دري دي. چې د نورو ژبو ویوونکي له دغو دوو څخه له یوې سره آشنا دي

## دیـــن

د افغانستان د خلکو عمومي دین اسلام دی. له شل زرو څخه یو څه زیات هندو وګړي او څو زره موسوي د نورو ادیانو لرونکي دي چې په ښارونو کې اوسیږي

## (۳) ټولنیز جوړښت

له دې امله چې د افغانستان د نفوسو په سلو کې نوي په کرنه کې بوخت دي، له هغو څخه یې په سلو کې اتیا، په ده نشین او ساکن ډول میشت دي او کرنه پر مخ بیایي او څه نا څه په سلو کې شل یې د هېواد په بیلا بیلو څرځایونو کې د څارویو په روزنه بوخت دي، نو له دې امله د کمیت او کیفیت له پلوه د افغانستان د ټولنې د نن ورځې اساسي طبقې ملاکان او بزګران دي.

د ملاکانو طبقه: د افغانستان ملاك (ځمکوال) له پنځوس جریبو څخه زیاته تر پنځه سوه جریبه پورې ځمکې او له پنځه سوو جریبو څخه زیاتې ځمکې لري. دوی څه نا څه په سوداګرۍ او په دولتي

مامورینو کې هم بوخت دي. د رسمي احصائیو له مخې [1] د دوی شمیر ۳۸ زره کورنۍ کیږي چې د ټولو کروندګرو کورنیو د مجموعې په سلو کې شپږ کیږي. د یو شمیر بهرنیو متخصصنو د احصائیو له مخې هغوی د هیواد د آبې ځمکو په سلو کې اویا ځمکې لري [2]

بزګره طبقه د هیواد بزګران په څو ډوله دي. لومړی هغه ډله چې یو څه هوسا دي او دوی له شلو څخه تر پنځوس جریبه ځمکه لري او د رسمي احصائیو له مخې د هیواد د ټولو کروندګرو په سلو کې نهه جوړوي. دوهمه ډله منځنۍ بزګران دي چې له اتو څخه تر شل جریبه ځمکه لري. دریم هغه بزګران چې کوچنۍ ټوټې یعنې له دریو څخه تر اتو جریبو پورې ځمکې لري او د لویو ځمکوالو په کروندو کې په اجاره داري ډول هم کار کوي. څلورمه ډله هغه بزګران دي چې بې ځمکې او یا د ډیرې لږ ځمکې لرونکي دي چې دوی د ځمکوالو په ځمکو کې د کار د ونډې لرونکو، اجاره لرونکو یا هم د اجیر کروندګر په توګه کار کوي. د رسمي یورتنی احصائیې له مخې دغه وروستی ډله د ټولو کروندګرو په سلو کې پنځه اتیا برخه جوړوي او د بهرنیو متخصصنو د یو شمیر ارقامو له مخې د هیواد د بزګرانو دریمه برخه یې بې ځمکې دي.

د هیواد په کلیو کې وار په وار د پیسو خپریدل ډیریږي. نو په دې توګه ځمکه د سوداګریز توکي ځای نیسي او بیه یې وار په وار لوړیږي. په دې توګه د لږو ځمکو لرونکي بزګران خپلې ځمکې وار په وار له لاسه ورکوي او وار په وار د بې ځمکو بزګرانو په کتار کې دریږي. په دې توګه په افغانستان کې د ځمکو د اصلاحاتو او د ځمکو ویش د یوې مهمې سیاسي، اقتصادي او حیاتي موضوع په توګه را برسیره کیږي.

بورژوازي طبقه بورژوازي طبقه د هیواد په اقتصادي او سیاسي ژوند کې لوړ اهمیت لري. لوی سوداګر د سوداګریزو شرکتونو او بانکونو له لارې د سوداګریزو توکیو د صادراتو او د هغو د واردولو له مخې د هیواد په کورنۍ او بهرنۍ تجارت کې د عمده پلورونکو په بڼه کار کوي و ځینې وخت هم په صنایعو کې کار کوي. منځني سوداګران د لویو او کوچنیو سوداګرو ترمنځ د نوسان په حال کې دي او هڅه کوي چې د لویو سوداګرو صف (لیکو) ته ور ورسیږي. خو زیاتره وخت خپل دریځ له لاسه ورکوي او د کوچنیو سوداګرو او د هغو صادراتي او وارداتي مالونو د پلورلو او پیریدلو د استازي په توګه پاتې کیږي.

کارګره طبقه په صنعتي فابریکو او نورو کارخایونو کې د افغانستان د کارګرانو شمیر له شپیتو زرو څخه اوړي او د صنایعو د ورځ په ورځ پرمختګ له امله مخ په زیاتوالي دي. دغه طبقه د هیواد په خواتو صنایعو کې اوس لږ او خواره واره دي. چې تر او سه پورې خپل ځانګړې ګوند، اتحادیه او کارګري تشکیلات نه لري. په ۱۹۵۹ کې د یوه عادي کارګر میاشتنی معاش تر څلور سوه افغانیو، د یو منځني کارګر معاش تر پنځه سوه او پنځوس او د ماهر کارګر میاشتنی معاش تر اته سوو افغانیو پورې رسیده. په همدې کال کې یو کیلو ډوډۍ ۴۷ افغانۍ. وریځې ۱۲. د پسه غوښه ۱۵. ژیړ غوړي

---

[1] - سالنامه کابل ۱۹۵۵ کال ۸ م

[2] - افغانستان معاصر. د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې د انسټیوټ چاپ ۱۹۶۰ - مسکو

Scanned by CamScanner

۴۲. بوره ۱۲ - ۱۵ او يو متر ټوکر يا چيت رخت ۹ - ۱۰ افغانيو پورې بيه درلوده.

ښاري منځنۍ طبقه په دې طبقه کې ښوونکي، کسبه کاران، دولتي د ټيټې رتبې مامورين، يو شمير روڼاندي او متعلمين، کوچني سوداګر، هټيوال او نور راځي. چې شمير يې زيات دی، خو د سپکو صنايعو وده او د بهرنيو وارداتي مالونو د سيالي پراختيا، کسبه کار او پېشه وران له ماتې سره مخامخ کړي دي (پرته له غالۍ اوبدلو او ټغر جوړولو څخه چې وضعيت يې لږ څه ښه دی).

روحاني قشر د افغانستان د روحانيونو شمېر له سل زرو څخه يو څه زيات دی. دغه قشر د مذهبي چارو، قضايي چارو او ښوونې او روزنې له لارې رزق ګټي او له همدې لارې د خلکو د تفکر په طرز او ژوند باندې، په تيره بيا په کليو کې ژوره غيزه لري.

روڼاندی (د روشنفکرانو قشر) د هېواد روڼاندي چې له بېلا بيلو طبقاتو څخه دي، په اداري چارو، تصديو او علمي او اقتصادي چارو کې بوخت دي. دغه قشر د ښوونې او روزنې او معارف د هرې ورځې پرمختګ سره سم مخ په زياتيدو دي او د هېواد په سياسي او ټولنيز ژوند کې ژوره اغيزه لري.

## (۴) د ټولنيز ژوند نظام

په افغانستان کې د پانګوالي مناسباتو له انکشاف سره سره، لا اوس هم فيوډالي او نيمه فيوډالي مناسبات شته. په کورنۍ کې دود - دستور او په کوچيانو او نيمه کوچيانو کې، په تيره بيا د ختيزو ولايتونو کې جرګه يې د دودونه شته. جرګې په اصل کې د قبيلوي ژوند د نظام ښوونه کوي، چې د قبيلي دننه چارې د سپين ږيرو په مشوره حل کوي، د قبيلې په سر کې خان (فيوډال) دی او د کلي مشر ملك دی. د خان او ملك واك د دوی او د دوی د قبيلې په اقتصادي خواکمني پورې تړلی. ملايان لکه د خان او ملك په شان د هرې سيمې د ځواکمنو لوريو استازی دی. په حقوقي مسايلو کې د شريعت احکام له قانون څخه مخکې دي. همدارنګه د قضايي ادارو، پوليسو او د حکومت د ځانګو واك او پراخوالی د تدوين شويو قوانينو په جامدو موادو را ګرځي. نارينه پر ښځه غوره بلل کېږي او ښځه په ميراث کې د نارينه نيمايي برخه اخلي، په محکمو کې د دوو ښځو شهادت د يوه نارينه شاهدي سره برابر دی او د نکاح په فسخ کې او د ځو ښځو په ودولو کې هم نارينه (ميړه) واك لري. په دې توګه ښځې په قيودو کې ژوند تيروي.

## (۵) خوراک، پوښاک او کورونه

د افغانستان په ښارونو کې د شتمنو او منځينو طبقو خوراك غوښه، وريجې، سابه او ميوه، خو د بيوزلو خلکو خوراك ډوډۍ، چاى او بوره وه، د شتمنو او منځنيو طبقو جامې په اروپايي طرز سره مخ په دود کيدو دي. کورونه يې څه نا څه په نوي سبك له پخو خښتو، ښورې، لرګيو، وسپنې يا هم له سمنټو او ګاډرو څخه جوړ دي. په تيره بيا په مرکز او لويو ښارونو کې دغه ډول کورونه جوړيږي، خو د ګڼ

شمیر خلکو کورونه له خټو او لرګیو څخه جوړ شوي، کوڅې ناپاکې او کورونه روغتیایي نه دي ځینې ښارونه برېښنا، سینما، تیلفون او پاخه سړکونه لري، ښارونه لا اوس هم د بدرفت کانالونه نه لري. خو په کلیو کې ټول کورونه له خټو او لرګیو څخه جوړ دي، کوچیان په کیږدیو کې اوسیږي، لارې او کوڅې ډېرې تنګې او له خاورو ډکې دي. صفایي، حمام او برېښنا پکې نشته، په اکثرو ډیرو لرې کیلو کې کورونو کې فرش نشته، خلک په کټونو یا پوزي باندې کیني. د روغتیا ساتنې، تفریح او ښوونې او روزنې وسایل نشته.

د کلیوالي خلکو خوراک د غنمو یا جوارو ډوډی، باقلي، وړدن، لبنیات او غني وخت غوښه او میوه ده. عمومي جامې کمیس، پرتوګ، لونګۍ، چپن، پنې یا څپلۍ دي. ښځې ګڼ اوږده کمیسونه اغوندي او ارزان بیه ګاڼې کاروي. په عمومي توګه د ښارونو د ساده او لومړني تمدن او د کلیو د اکثریت خلکو ترمنځ انډول او نژدېوالی نشته، مړی ژوندی بې په ډیرو ملاماتوونکو لګښتونو تر سره کېږي

## د دولت جوړښت (سیاسي رژیم)

د هېواد (۱۹۲۵ کال) اساسي قانون سره سم د افغانستان سیاسي رژیم مشروطه شاهي اعلان شوی دی. د دولت اساسي ارګانونه: شاه، د وزیرانو مجلس، وزارتونه، د خلکو جرګه، د مشرانو جرګه او لویه جرګه ده. هېواد په ۲۸ ولایتونو (اداري واحدونو) ویشل شوی دی. خو تر اوسه (۱۳۴۳ یا ۱۹۶۵) پورې مطابع او مطبوعات د دولت په لاس کې دي، سیاسي ګوندونه، کارګرې ټولنې او بزګرې ټولنې نشته.

# شپږم
# د هېواد فرهنګي وضعیت

عمومي ښوونه او روزنه د معارف د وزارت تر نظر لاندې ده. د رسمي احصائیې له مخې[1] په ۱۳۴۰ (۱۹۶۱) کال کې لس پوهنځي، ۳۱ مسلکي ښوونځي، ۲۲ عالي ښوونځي، ۵۲ منځني ښوونځي، ۵۳۳ لومړني ښوونځي او ۷۸۸ کلیوالي ښوونځي یعنی ټول ۱۴۳۲ ښوونځي شته چې په هغو کې ۲۳۵۳۰۱ نجونې او هلکان سبق وایي د هلکانو په پرتله د نجونو زده کوونکو اندول له اوو برخو څخه یوه برخه دی. د ښوونکو (نارینه او ښځینه وو) شمیر ۵۹۸۳ تنه کېږي. دغه ټول ښوونځي تر ۱۳۴۰ (۱۹۶۱) پورې ۱۴۷۱۹ تنه فارغان لري چې له هغو څخه یې ۲۲۹ د کابل پوهنتون فارغان، ۹۰۷ تنه یې د مسلکي ښوونځیو فارغان، ۵۴۰ تنه یې د دولسم ټولګي فارغان چې ټول ۱۶۷۴ تنه کېږي. له دې پرته په ټول هېواد کې ۲۷ دیني مدرسې شته چې د ۳۰۰۰ شاوخوا زده کوونکي په اسلامي فقهه او د قرآن کریم په حفظ کې روزي. د زرو په شاوخوا کې افغاني زده کوونکي له هېواد څخه بهر په زده کړو بوخت دي. په دې توګه د ښوونې او روزنې عمومي کچه ټیټه او عمومي اقتصادي بیوزلي لیدل کېږي، ښوونکي لږ او تعلیمي لوازم کم دي. چې دا د ملي معارف د چټکې ودې په مخ کې خنډ دي.

د هېواد په سلو کې شل نفوسو څخه درې میلیونه تنه یې د اوو او دیارلس کلونو ترمنځ دي چې د ښوونځي د تګ وړ دي، حال دا چې له هغو څخه په سلو کې لس تر روزنې لاندې دي، نور پاتې ټول له معارف څخه بې برخې دي، نو د نورو ختیزو هېوادو او ګاونډیو په پرتله د افغانستان د معارف وروسته پاتېوالی حتمي خبره ده. د بېلګې په توګه د افغانستان د زده کوونکو شمېر د ټول نفوس په پرتله په سلو کې دوه دی په هند کې ۹.۹ او په پاکستان کې دغه سلنه ۷.۲ او په ایران کې اته ده. د باسوادانو شمیر په افغانستان کې په سلو کې له څلورو څخه کم دی.

ادبي وضعیت. له ی امله چې تر اوسه (۱۳۴۳) پورې مطابع او مطبوعات د دولت په لاس کې دي، نو ځکه ټولې جریدې او ورځپاڼې د حکومت د افکارو خپروونکې دي د سیاسي ټولنو او سیاست په هکله تبلیغاتي او یو اړخیز بڼه لري. د هېواد ځوان شاعران او لیکوال هم د سیاست په برخه کې محتاط او مقید دي. دا ځکه چې اداري درانه شرایط ددې فرصت نه برابروي چې هغه څه چې ویني او ور باندې پوهېږي، هغه په آزادانه توګه انځور کړي. بلکې زیاتره په ادبي، مسلکي یا تاریخي موضوعاتو کې بوخت دي. خو بیا هم د هېواد ادبیات له زړې دورې څخه مخ په نوې دوره او د اوښتون په حال کې دي. په افغانستان کې یو څو نوي کتابتونونه هم شته او په لویو ښارونو کې سینماګانې هم شته.

[1] - د پیشرفت پلان و تحلیل اوضاع اقتصادي کتاب ۳۵- ۱۳۴۰ کلونه د پلان د وزارت چاپ ۱۳۴۲ (۱۹۶۳) کال

Scanned by CamScanner

# اووم
# عامه روغتیا

په افغانستان کې د پنځلس میلیونو وګړو روغتیا - د عامې روغتیا د وزارت تر نظر لاندې ده. ۱۳۴۰ (۱۹۶۱) کال د رسمي احصائیې له مخې په هېواد کې ۵۹ روغتونونه، پنځه زېږنتونونه، پنځه د توبرکلوز سناتوریمونه، ۱۹ لابراتوارونه ۱۸اکسریز، ۱۵۷ درملتونونه، ۲۱۱۱ بستره، ۲۵۰ ډاکتران، ۶۵ د ډاکتر مرستیالان، دي. په دې توګه په افغانستان کې هر طبیب (د طبیب د مرستیال په ګډون) ته د هېواد پنځوس زره نفوس رسېږي، حال دا چې په پاکستان کې هر طبیب ته ۱۴.۸ زره تنه، په ایران کې هر طبیب ته ۸.۲ زره تنه، په هندوستان کې ۴.۹ زره تنه او په ترکیه کې هر طبیب ته څلور زره تنه رسیږي. دغه ارقام د روغتیا په برخه کې د افغانستان ډېر زیات وروسته پاتېوالی ښکاره کوي. د افغانستان د ټولو روغتیایي پرسونلو شمېر ۱۳۰۰ تنو ته رسیږي.

# اتم
# د هېواد اقتصادي وضعیت

## ۱. کرنه

د افغانستان د اوسني اقتصاد بنسټ په کرنه ولاړ دی. د ۱۹۶۳ کال د احصائیو د رسمي معلوماتو له مخې د هېواد د کرنې وړ ځمکو مساحت ۱۴ میلیونه هکتاره دی، چې له هغو ټولو څخه اوه میلیونه او اته سوه زره هکتاره تر کرنې لاندې ده، چې پنځه میلیونه او درې سوه اولس زره هکتاره یې آبي او دوه میلیونه او څلور سوه ونوي زره هکتاره یې للمي ده. آبي ځمکې یې د سیندونو، ویالو، کانالونو او کاریزونو او چینو په واسطه خړوبیږي. للمي ځمکې باران پورې تړلي دي. د هېواد ډېرې مهمې کرنیزې ځمکې د آمو حوزه (له کوکچې څخه تر قیصار پورې)، لویدیز سیمې (هرات او سیستان) او د کابل د سیند کوزې برخې. د ځمکو سره ډېرانونه دي. کیمیاوي سره تر اوسه پورې پوره نه ده دود شوې او د هغې ویش بزګرانو ته په درېو کلونو کې یو زر ټنه هم نه و، کرنیز وسایل د لرګي او یو څه هم د وسپنې دي. ماشینونه صرف څو داني او د نمونې په توګه دي. درمندونه د څېر په ګرځولو چې غویانو یا خره یې کشوي، میده او تر سره کېږي، بیا په خاښیو بادیږي. غلې- داني د اوبو په ژرندو یا په لاسي میچنو اوړه کېږي، نو د اوبو د کمښت، د ماشین او سرې د نشتوالي له امله د څارویو او غلو د تولید اندازه ټیټه ده. تر ۱۳۴۰ کال پورې په هر کال کې اقل حد ۴۰ زره ټنه غم له بهر څخه واردیږي، حال دا چې په ۱۳۴۳ کال کې د غلې کمښت ۲۳۴۰۰۰ ټنه دی او ددغه کلنی کمښت هر کال مخ په زیاتیدو دی او د خلکو

بیوزلي زیاتیږي په هېواد کې د غلو - دانو د تولید اندازه د هر وګړي لپاره په منځني توګه ۱۵۰ کیلو ګرامه ده، حال دا چې د یو تن اړتیا ۲۳۵.۵۲ کیلو ګرامه ده، دا ځکه چې په هېواد کې د کرنیز حاصل کچه له یو جریب ځمکې څخه ډیره ټیټه ده په کلیو کې فیودالي مناسبات دي او یو قبیلوي نظام، کرنیزې ناروغی، د وسایلو نشتوالی او د اوبو لګولو د وسایلو کمښت د کرنې د پرمختیا خنډ دی لا اوس هم کرنه د خلکو د ژوند بنسټ دی د هېواد د ټولو نفوس په سلو کې نوي په کرنه کې بوخت ده او د هېواد د ټولو ملي مجموعي تولیداتو او یا په سلو کې د کرنې له محصولاتو څخه پوره کېږي بهرنیو هېوادو ته د افغانستان ټول صادرات کرنیز محصولات دي په ۱۹۲۰ کال کې له ۳۲۹۰۰۰۰ هکتاره آبي ځمکې څخه ۳۲۷۷۰۰۰ ټنه غلې - دانې تر لاسه شوي وې او ۲۲۱۰۰۰۰ هکتاره ځمکې ۱۹۳۰۰۰ ټنه سوداګریز محصولات تولید کړي لکه پنبه، جغندر، ګنې، غوړ لورنکي بوټي (کنځلي، زغر او پنبه دانه)، همدارنګه ۲۰۰۰۰۰ هکتاره باغي ځمکو ۳۰۵۰۰۰ ټنه بیلا بیلې میوې او ۱۰۰۰۰۰ هکتاره ځمکې ۵۰۰۰۰۰ ټنه سابه حاصل ورکړي دي دولتي ځمکې لږ دي او څومره چې دي هغه اجاره ورکول کېږي وقفي ځمکې تر دولتي ځمکو هم لږ دي چې بزګرانو ته په اجاره ورکول کېږي قبیلوي شریکې ځمکې چې د کوچیانو په واک کې دي، د هرې ورځې په تیریدو سره د خصوصي ملکیت لاس ته لوېږي. نو په دې توګه د کرنې لاندې ځمکو ډیره برخه هماغه شخصي ملکیتونه دي د اسلامي شرع له مخې ټول څړځایونه او د اوبو سرچینې، غرونه او دښتې د دولت ملکیت دي او د پاچا تر امر لاندې دي، چې هیڅوك یې د نیولو او لاندې کولو حق نه لري.

بڼوالی په افغانستان کې د هېواد په اقتصاد کې ډیر مهم ارزښت لري د هېواد دننه مصرف څخه پرته هر کال د ۵۵۰۰۰ ټنو شاوخوا کې انګور، ممیز، بادام، انار او پسته بهرته استول کېږي، د هېواد یو میلیونه هکتاره ځمکه ځنګلونه دي، خو د سمې ساتنې د نشوالی له امله له ګواښ سره مخامخ دي. په داسې حال کې چې د سوداګرۍ له پلوه نه یوازې د هېواد دننه اړتیاوې (سون، ودانۍ جوړولو او موبل او اثاثیه) پوره کوي، بلکې بهرته یې صادرول د ټولو صادراتو په سلو کې یوه برخه جوړوي په افغانستان کې د ۳۰۰۰۰۰۰ شاوخوا څاروي روزل کېږي، چې په هغو کې پنځلس نیم میلیونه یې پسونه، د پنځه میلیونو شاوخوا قره قل، د درې میلیونو شاوخوا غواګانې، یو نیم میلیون یې وزې او پاتې نور یې آسونه، اوښان، خره او کچرې دي په افغانستان کې مالداري د هېواد د اقتصاد یوه بنسټیزه تیره ده. بهر ته د قره قل پوستکو صادرول په ۱۳۴۰ (۱۹۶۱) کې له دوه نیم میلیونو ټوکو څخه زیات وو. پرته له دې چې د درې زرو ټنو شاوخوا وړۍ د هېواد دننه لګیږي، هر کال د اوه زرو ټنو شاوخوا بهر ته هم لیږل کېږي.

ټغر او غالۍ د افغانستان مهم صادرات دي همدارنګه د وزو او پسونو پوستکي او کولمې هم د هېواد د صادراتو یوه برخه ده. په دې توګه د افغانستان د ټولو صادراتي توکیو په سلو کې شپیته د مالدارۍ د برخې محصولات دي له دې پرته لبنیات وروسته تر غلو - دانو د افغانستان د خلکو مهم خوراکي توکي دي. غویان او خره په کرنه کې د بزګرانو (ماشین) بلل کېږي آس، اوښ او کچرې د بار وړلو او لیږدولو

Scanned by CamScanner

وسایل دي، خو د څارویو روزنې موجود سرایط د څاګانو د نشتوالی او د څرځایونو د نه اوبه کولو او د څارویو د ناروغیو د زیاتوالی، د ژمي د یخنی او د وښود د کمښت له امله څارویو روزنکو ته ستونزې پیدا کوي د کال په ځینو میاشتو کې څاروي د غرونو له بوټو او د غونډیو له وښو څخه خوراك کوي په ۱۳۵۱ ـ ۵۰ کلونو کې په هرات کې د څارویو د یوې ناروغی له امله په سلو کې اتیا ښکر لرونکي څاروي له منځه ولاړل. خو بیا هم هر کال د افغانستان له ټولو څارویو څخه په سلو کې شل د ناروغیو له امله مري

لوی ځمکوال په خپله په کرنه کې کار نه کوي، دوی زیاتره په سوداګرې، د دولت په ماموریت او یا هم په کلیو او ښارونو کې د سود په اخیستو او د پیسو په معاملو بوخت دي دوی خپلې ځمکې د سیمه ییزو مخورو او شتمنو په واسطه لږ ځمکو او بې ځمکو بزګرانو ته په اجاره ورکوي. منځني ځمکوال هم خپلې ځمکې په اجاره ورکوي خو هوسا بزګران په خپله پر خپلو ځمکو کار کوي. یا هم بې ځمکې بزګر د دهقان په توګه یا دا جبیر په توګه په خپلو ځمکو کې په کار ګوماري

د اجارې مهم شکل هماغه د ځمکې په محصول کې د ونډه لرونکي په بڼه ده چې دا له اقتصادي پلوه په هېواد کې د پیسو - جنس د مناسباتو او اړیکو ډیر ضعیفه بڼه او وروسته پاتیوالی څرګندوي. خو اوس مهال د پانګوالي د یو څه پرمختګ سره د ځمکو اجاره د پیسو په بیه هم رواج شوې ده. که چیرې ځمکه، اوبه، تخم، د کار څاروي او وسایل د ځمکوال وي او مالیه هم د ځمکې خاوند ورکړي، د ځمکې په حاصل کې د بزګر برخه څلورمه برخه او ځینې وخت پېنځمه برخه ده که بزګر د کار څاروي او د کار وسایل ولري، نو د حاصل نیمایي برخه اخلي او ځینې وخت نیم تخم او نیمایي مالیه هم پرې کوي د هېواد په لویدیځ کې همداسې په نیمایي باندې کار کول دود دي او بزګر نیمایي حاصل اخلي. مخکې له دې څخه مو د ابي ځمکو د اجارې په هکله وویل، د للمي ځمکو اجاره - ډیر کړاو او لږ حاصل لري، بزګر له پنځو برخو څخه څلورمه برخه حاصل اخلي او ځینې وخت په لسو برخه کې نهه برخې اخلي چې بیګار هم د بزګر په غاړه وي د کلیو شتمن خلك، ځمکوال، هټیوال، ملك او شتمن ځمکوال د بزګرانو د اړتیا پر مهال هغوی ته په سلو کې تر اویا پورې په سود باندې پور ورکوي، چې په دې توګه دوی نور هم بډای کیږي او بزګران نور هم بیوزله کیږي د ځمکوال او بزګر ترمنځ د حاصل ویش د قانون له خوا نه دی تنظیم شوی همدارنګه بزګر او د هغه د کورنی غړي هم ځینې وخت د ځمکوال په کور کې کار کوي

د څارویو روزنې په برخه کې. لوی څاروي لرونکي چې هر یو یې تر زرو څخه زیاتې میږې او وزې لري، د شپنی، د پسونو د وړیو ټولولو، وړی سنی کولو، د شیدو لوشلو او نورو چارو لپاره دوه سوو څخه تر دوه نیم سوه تنو پورې د کار لپاره ساتي دوی خپل هر شپانه ته په یوه کال کې له خپلو هرو شلو میږو څخه یوه ورکوي ځینې وخت یو شپون دوه سوه یا دوه نیم سوه میږې او وزې پیایي لوی څاروي لرونکی په قبیله کې مخور کسان دي او بډایه څرځایونه یې په واك کې دي. ځینې وخت په للمي ځمکو کې غلې - دانې هم کري او بزګر ته له څلورو برخوي یوه ورکوي. څاروي روزونکي د میږو او وزو د رمو ترڅنګ یو شمیر نور څاروي لکه اوښ، خره او غواوې هم ساتي منځني څاروي لرونکي سل یا پنځه

سوه څاروي لري. کوچني څاروي لرونکی تر سلو پورې میږې او وزې لري. په څارویو روزنه کې هم لکه د کرنې په شان لاسي صنایع د هېواد د اقتصاد یو متمم جز دی. په دې وروستیو کې څاروي روزونکو هم د راکړې ورکړې پر مهال د پیسو په تبادله لاس پورې کړ. لویو مالدارانو کوچني مالداران ورو ورو د بیوزلی خواته شړلي دي. تر اوسه پورې هیڅ کوم تشکیلات، ټولنې او بزګري اتحادیې نشته چې د دوی د ګټو ساتنه وکړي. نو ځکه بزګران او شپانه په چوپه خوله او په ټوکلي توګه پیښې زغمي. له کلیوالي صنایع، کوپراتیفونو او د کرنیز بانك له کریدیت څخه لږ شمیر ځواکمن کیلوال ګټه اخیستلای شي. د کرنې په برخه کې د دولت یوه مهمه پروژه د هلمند او ارغنداب پروژه ده چې د موریسن کندسن امریکایي کمپنۍ له خوا یې کار له ۱۹۴۲ کال راهیسې پیل شوی دی او تر اوسه پورې په دغې پروژه کې تر سل میلیونو ډالرو څخه زیاتې پیسې لګیدلي دي. خو هغې درې سوه زره هکتاره اټکل شوې ځمکې څخه چې په پام کې وه. یواځې دیرش زره یې د ۱۳۰۰ کورنیو لپاره نوی د اوسیدو وړ شوې پاتې نوره بنوره لرونکي وختله. بله مهمه پروژه د ننګرهار د کانال پروژه ده چې د شوروي اتحاد د متخصصنو له خوا جوړه شوې ده. دغه کانال ۲۵۰۰۰ هکتاره نوی کرنیز ځمکه او ۷۰۰۰ هکتاره موجوده کرنیزه ځمکه خړوبوي. پاتې نوره کرنه لا اوس هم له پانګوالۍ څخه مخکې دورې په شان وروسته پاتې بڼه لري.

## ۲. صنایع

د سوداګریزې پانګې د جوړیدو سرچپه، په افغانستان کې د صنعتي تولیداتو د تشکیل زمینه ډیره وروسته چمتو شوه. کله چې د صنایعو پیل کیدل تر سترګو شول. د بریښنا د نشتوالي له امله یې پرمختګ ډیر ورو و. د بیلګې په توګه تر ۱۹۵۸ پورې د بریښنا ځلوېښت ستیشنونه وو چې ټول قدرت یې اته زره کیلو واټه و. وروسته د سهامي شرکتونو تر جوړیدو څخه چې بهرته د صادرولو او دننه ته واردولو په برخه کې یې د انحصار حق درلود- پانګه را ټوله شوه او ددې لامل وګرځیده چې یوه برخه یې د صنایعو ترڅنګ د یو شمیر درنو او سپکو صنایعو فابریکې رامنځته شوې لکه صابون او چیني جوړول، تیل ایستل، د بریښنا تولید، نساجي ګانې، ګوګړ جوړول، د بورې او سمنټ جوړولو فابریکې، د میوې سمون، د پنبې پاکول، د موټرو د ترمیم ورکشاپونه او یو د کار د یو شمیر وسایلو جوړول، د قیر فابریکه، ترکاڼي، څرمن جوړول، بوټ ګنډل، مسلخ او نور، خو بیا هم د تولید کچه د لږ اندازې بهرنۍ پانګې اچونې سره سره ډیره ټیټه ده (د ۱۹۵۴ کال د تصویب شوي قانون له مخې بهرني پانګه د ونډې اخیستو اجازه لري) او د صنعتي تولیداتو ونډه د کرنیز ټولو تولیداتو په پرتله په یولسو برخو کې یوه برخه ده. د بیلګې په توګه هغه مهم صنعتي تولیدات چې د ۱۳۴۰ (۱۹۶۱) کال په رسمي احصائیه کې ښودل شوي دادي

- د بریښنا ګرځوونکی قوه په یو ساعت کې ۱۲۰.۸۰ میلیون کیلوواټه- ۴۷.۸۴۰ کیلو واټه یې ډیزلي بریښنا. ۴.۲۲ میلیون کیلو واټه په یو ساعت کې، ۵.۸۷۰ کیلو واټه د بخار بریښنا ۱.۷۲

میلیون کیلو واټه په یو ساعت کې ۲۴۰ ۵ کیلو واټه.

- تاري منسوجات ۲۷ میلیونه او ۲۳۴ زره متره
- سندي منسوجات ۲۲۷ زره متره- وړین منسوجات ۱۵۷ زره متره
- سمنټ ۴۰ زره او ۱۲۹ متریك ټنه
- ګوګړ ۴۴۴ زره درجنه
- صابون ۲ میلیون او ۵۸۹ زره کلچې
- چیني باب ۱۸۰۰۰۰ دانې
- بوره او قند ۴۸۴۴ متریك ټنه
- د ډبرو سکاره ۲۲۴۸۴ متریك ټنه
- مالګه ۲۲۷۸۴ متریك ټنه
- لاجبر درې متریك ټنه
- ابرك (شوکانې) زر ټنه
- بیرل دیرش ټنه
- نباتي تیل ۴۸۰۰ ټنه

له دې سره سره د خوراکي توکیو او سپکو صنایعو په برخه کې پنځوس فابریکې؛ څلویښت د برېښنا فابریکې، د ډبرو د سکرو درې کانونه، د مالګې څو کانونه، د ګوګړو، ابرك (شوکانې) او یو شمیر نور کانونه چې په هغو ټولو کې د دیرش زرو شاوخوا کارګران کار کوي. د یاقوتو، سپینو زرو، سرهو او وسپنې له کانونو کار نه دی اخیستل شوی، په داسې حال کې چې د افغانستان د وسپنې د کانونو زېرمې له دوو میلیاردو ټنو څخه زیاتې دي. د نفتو پلټنې روانې دي. د طبیعي ګازو پېژندل شوې زېرمې د ۲۲ میلیارده مکعب مترو شاوخوا اټکل شوې دي.

افغانستان د خپلې اقتصادي ودې له مخې له نورو ورته هوادو څخه وروسته پاتې دی. د بیلګې په توګه په ۱۹۶۳ کال کې د برېښنا د تولید اندازه په هېواد کې هر وګړي ته په یو ساعت کې ۱۲.۱ کیلو واټه وه، حال دا چې په هند کې ۴۵.۱ په پاکستان کې ۱۵.۵ او په ایران کې په یو ساعت کې ۴۴ کیلو واټه هر وګړي ته وه. همدارنګه په ۱۹۶۳ کال کې د هر وګړي په سر د سمنټو تولید ۷.۹ کیلو ګرامه و، په هند کې دغه اندازه ۱۷.۹ په پاکستان کې ۱۲.۱ په ترکیه کې ۷۳.۳ او په ایران کې ۳۸ کیلو ګرامه هر وګړي ته وه. افغانستان هر تن ته د ډبرو د سکرو، د بورې، رخت او یو شمیر نورو موادو د تولید له مخې هم د ختیزو او ګاونډیو هېوادو په پرتله وروسته پاتې دی. د بیلګې په توګه د هېواد پنځلس میلیونه وګړي په کال کې ۱۵۰ میلیونه متره رخت ته اړتیا لري، حال دا چې د افغانستان د فابریکو تولیدات په دې برخه کې د دغې اړتیا پینځمې برخې ته رسیږي، نوره اړتیا سره له دې چې لاسي صنایع هم یو څه تولیدوي، په کال کې ۵۲ میلیون متره له بهر څخه راځي او ورسره بهرنی مستعمل لباسونه هم راځي. د افغانستان د ټولو لاسي او ماشیني صنایعو تولیدات د هېواد د مجموعي تولیداتو په سلو کې

۲.۵ برخې جوړ وي. حال دا چې د افغانستان موجوده زیرمو څخه کار نه دی اخیستل شوی او د پانګې د لګولو زمینه چمتو ده. په تولیدي برخه کې د بهرنۍ پانګې اچونې اندازه لږ ده او آزاده کورنۍ پانګه اچونه د دولت د پانګې اچونې په پرتله لږ ده. د هېواد سوداګر زیاتره د دلالي ماهیت لرونکې سوداګري او په صادراتو وارداتو بوخت دي چې موخه یې لوړه اندازه ګټه کول دي او ګټه یې د احتکار په قالب کې ده چې په ځمکه، باغ، ودانیو او نقدو اسعارو بدلیږي. ځینې برخې یې بهر ته تښتي. په دې توګه د هېواد دننه د پانګې کمښت د سود انداه لوړوي. د بېلګې په توګه د بانکونو ربح په سلو کې لس او په ازاد بازار او ښارونو کې په سلو کې ۲۴ ته او ځینې وخت تردې هم لوړ دی. نو ځکه د صنایعو پرمختګ ډېر ورو پرمخ ځي او هېواد لا اوس هم بهرنیو هېوادو ته د خامو موادو منبع ده او د هغوی پاخه مواد دلته پلورل کېږي.

د هېواد لاسي صنایع غالۍ او بډل او تغر جوړول دي چې بهر ته هم استول کېږي. ځولۍ، جوالونه، تاري رختونه، وریښمین او وړین ټوکران، څرمن جوړول، فلز کاري، پښګري، زرګري، د کرنیزو وسایلو جوړول، حلبي جوړول، تیل ایستل، صابون او ګوړه جوړول، کلالي او نور هم لاسي صنایع دي. خو لا هم لاسي صنایع چې د هېواد په اقتصاد کې مهم ارزښت لري، د پراخه ملاتړ، مرستې او لارښوونې لاندې نه دي نیول شوي. پیشه وران هم کومه ټولنه، تشکیلات او صنعتي اتحادیه نه لري، نو د پیښو په وړاندې محکوم دي (د صنعتي اعتبارونو کیسه (امیاني) چې یو دفتر او یوه موسسه ده. نشي کولای په هېواد کې د لاسي صنایعو اړتیاوې پوره او کریډت ورکړي او صنایع را ژوندي کړي. دا ځکه چې د هغوی پورونه صرف د څو تنو پېژاندو په واك دي او نورو ته نه رسیږي.

## ۳. حمل و نقل او اړیکې

ځمکني لیږدول: افغانستان د وسپنې پټلۍ نه لري. یواځې یو ځل په ۱۳۰۷ (۱۹۲۸) کې د هغه مهال دولت په دې برخه ې ګام اوچت کړ او د جرمني او فرانسې د پټلۍ جوړولو له کمپنیو سره یې قرار داد لاسلیك کړی و، چې د وسپنې د پټلۍ په غځولو سره به د هېواد شمال له جنوب سره وتړي. خو د (بچه سقاو) ارتجاعي اغتشاش دغه قرار داد له لس کلنو نورو ټولو ریفورمونو سره او په خپله د هغه وخت له دولت سره یو ځای له منځه یوړ. نو ځکه د هېواد ټول ځمکني لیږدول یا په څارویو تر سره کېږي یا هم په موټرو. وروسته بیا ورو ورو او په ډېر ځنډ سره لارې غځولو پرمختګ وکړ او د موټرو لیږدول پراخ شول. اوس له کابل څخه د هېواد نورو ښارونو ته حلقوي شبکه او د فرعي لارو په واسطه د شوروي اتحاد تر پولو، تر ایران او پاکستان پورې د ۲۰۰۰ کیلومترو په واټن لاره جوړه شوې ده.

تر ۱۹۲۱ پورې حمل و نقل په ۸۰۰۰ بار وړونکو او ۱۰۰۰ بسونو تر سره کید او په همدې کال ۲۰۰۰ کوچنې موټر هم په هېواد کې چلیدل. خو لا هم د هېواد دننه ډېر بارونه په څارویو وړل کېږي. بار وړونکي څاروي په هېواد کې د فیوډالي اقتصاد بېلګه ده چې د لیږدولو په ډګر کې تر سترګو کېږي. کابل- کندهار- هرات او کابل- مزار او کابل- تورخم د هېواد مهمې اقتصادي لارې دي. په ۱۳۴۰

Scanned by CamScanner

(۱۹۲۱) کې له ۵۴ څخه زیاتو سهامي شرکتونو ځمکني لیږدول تر سره کول چې دولت په ۳۵ شرکتونو کې ونډه درلوده. له دې امله چې افغانستان له سمندري لارو څخه محروم ګرځول شوی دی، نو اقتصادي ژوند یې د سوداګریزو توکو په ترانزیت پورې تړلی دی چې د شوروي اتحاد، ایران او پاکستان له خاورو څخه تیریږي او بیا له نړۍ سره اړیکي موندلای شي.

د هوا له لارې لیږدول: تر ۱۹۲۱ کال پورې آریانا هوایي شرکت په خپلو شپږو الوتکو سره د هېواد له نهو هوایي ډګرونو (کابل، بګرام، کندهار، هرات، مزار، جلال آباد، میمنه، کندز او سبزوار) څخه ۴۱ زره مسافر او شپږ میلیون ټنه سوداګریز مالونه د هېواد دننه او بهر لیږدولي دي. زیات شمیر سوداګریز توکي یې غالي، قره قل او وچه میوه ده. د افغانستان هوایي اړیکې له شوروي اتحاد، ایران، هند پاکستان، فرانسې او یو شمیر نورو بهرنیو هېوادو سره ټینګې دي. د هوایي چلند او د مترولوژۍ د ستیشنونو نظارت د هېواد د ملکي هوایي چلند ریاست په غاړه دی او ځمکني لیږدول ټول د عمومي ترانسپورت د ریاست تر نظارت لاندې دي. چې دا ټول بیا د اړوند وزارت د دندو یوه برخه ده.

## ۴. مخابرات

په اوسني وخت کې په افغانستان کې د اړیکو ډېره مهمه وسیله ډاک بلل کېږي چې د مخابراتو د وزارت تر نظارت لاندې په موټرو او الوتکو کې استول کېږي او په یوه کال کې ۴.۵ میلیونه پستي انتقالات تر سره کوي. د هېواد د ډاک دفترونه په ۱۹۲۱ کې ۳۴۴ خانګې وې چې ۱۲۰۰ تنه کار کوونکي یې لرل چې په دې کې د تیلفون او تلګراف کارکوونکي هم راځي. همدارنګه په هېواد کې ۲۳۹ سوچبوردونه ۲۳۰۰ تیلفونونه کار کوي. تیلګرافي او تیلفوني کرښې کابل له ولایتونو سره تړي. په ډاک لیږلو کې افغانستان له شوروي اتحاد، ایران، اتازوني (امریکې)، ایتالیا، هالند، سویډن او نورو هېوادو سره یو شمیر موافقې کړي. د هېواد راډیويي دستګاه جلا تشکیلات لري.

## ۵. بشري ځواک او د کار ګومارلو بازار

د نفوسو د احصائیې موضوع اوس هم په افغانستان کې په ډېره لومړنۍ بڼه ده، خو بیا هم د رسمي احصائیې له مخې په ۱۹۲۱ کال کې د کابل د کار ګومارلو بازار دا ښودلې چې: د دولتي استخدام شمیر ۲۷۷۰۰ تنه نارینه او ۲۲۵۰ تنه ښځې دي. د خصوصي برخې استخدام د صنایعو، سوداګرۍ، هټیو او کوچنیو موسسو او ناسید استخدام په ګډون ۲۴۷۲۰ تنو ته رسیږي. په خصوصي او دولتي برخو کې د کمبود مجموعه ۵۱۹۲تنه نارینه او ۲۸۰ تنه ښځینه کارکوونکي ښودل شوي دي. په کابل کې د ښځینه کارکوونکو شمیر ۲۸۷۰ تنه ښودل شوی. کمبود پرسونل زیاتره د دفتر مامورین، بیلا بیل انجنیران، مهندسان، د اکسرې کارکوونکي، نقشه ایستونکي، د لابراتوار کار کوونکي، د برېښنا کارګر، عکاسان او اوبدونکي او ښکګران دي. په کابل کې د کانونو د وزارت د استخدام څانګې ته په

یوه میاشت کې تر ۴۰۰ تنو پورې د کار موندلو لپاره راځي، چې په هغو کې ترکاڼ، خټګر، تېرې توږونکي، نلدوان، برقي، د موټرو ترمیم کوونکي، میخانیک، ډریوران، د ښوونځیو د شپږمو ټولګیو فارغان او متقاعد مامورین دي. حال دا چې زیات شمیر وزګار وګړي لا اوس هم د استخدام له ځانګې څخه خبر نه دي او د کار په ډول یې نه پوهیږي. د مراجعه کوونکو میاشتني شمیر څرګندوي چې یوازې بې پیشه او بې شغله خلك وزګار نه دي، بلکې ماهر او نیمه ماهر وګړي هم له بیکارۍ سره مخامخ دي. که چیرې د هېواد د ټولو ولایتونو د استخدام احصائیه چمتو وای نو د کار کوونکو او بیکارانو سم شمیر به ښودل شوی و. په هر حال؛ داسې ویل کیدای شي چې د افغانستان د بیکارو وګړو شمیر زیات دی. دا ځکه چې په کلیو کې د بزګرانو د بې ځمکه کیدو بهیر روان دی او په ښارونو کې د صنعتي دستګاوو کمښت په کلیو او ښارونو کې د بیکارانو د زیاتوالی لامل دی.

## ۶. بهرنۍ سوداګري

دولت د لارښودي اقتصادي تګلارې په غوره کولو او د لارښودو پلانونو په جوړولو سره (دولتي موسسې، د اسعارو کنټرول او نورو هېوادو سره د سوداګریزو قرار دادونو ترل) چارې په واك کې لري او لوی پانګوال د خپلو شرکتونو او بانکونو له لارې د هېواد بهرنۍ سوداګري په واك کې لري. د غلو- دانو د چمتو کولو مؤسسات د درملو دیپو، د دولتي انحصاراتو ریاست له اتیاوو شخصي تخصصي موسسو او شرکتونو سره یو ځای (د دولتي پانګې په ګډون)، سوداګریزې خونې (د سوداګرۍ د وزارت تر نظارت لاندې)، د افغانستان بانك، صنعتي بانك، رهني او تعمیراتي او تجارتي بانك سره یو ځای، ټول په سوداګرۍ کې د دولت لاسوهنې ته لار هواروي. د تیلو، روغنیاتو، بورې، سګرټو، غلې، موټرو او تر یو حد پورې د ماشینونو، سمنټو او نورو واردول دولتي سکتور پورې اړه لري. د هېواد د صادراتي زیات شمیر توکیو د صادرولو واك له شخصي خصوصي شرکتونو (د دولتي پانګې په ګډون) په لاس کې دی لکه د قره قل شرکت چې د ټولو قرقلو صادرول او (د وړیو شرکت) چې د هېواد په سلو کې د اویا وړیو او د (پنبې اتحادیه) چې په سلو کې د اویا پنبې د صادرولو واك لري. له دې پرته، د میوې، غالیو، غوړي لرونکو دانو، د وزو د وزغنو، د وزو او پسونو د پوستکو، د طبي بوټو، لرګیو او نورو سوداګري هم همدغو شرکتونو پورې اړه لري په دې توګه دولتي پانګونه پراخه او د سوداګرۍ د چارو د وزارت رول ستر دی، خو د هېواد د صادراتو نه پرمختیا، د صنعت او کرنې د وروسته والي، د پانګې کمښت، د لیږدولو د لوړ لګښت، په صادراتي توکیو د دولت لوړ مالیات، د تولیداتو په ارزانه بیه د پلورلو مجبوریت، د باربندي نا سموالی، د صادراتي توکیو پاکي، سمه درجه بندي (سورت کول)، او د تازه میوې د سمون او ساتنې د وسایلو نشتوالی له امله خنډ سره مخامخ ده. د افغانستان بهرنۍ سوداګري د پانګې د راټولیدو او د دولت د بودجې د عایداتو مهمه منبع ده. له بلې خوا د افغانستان د دولت په سیاست کې هم ډیره اغیزمنه ده. د کرنې او صنعت د وروسته پاتېوالي له امله، افغانستان خپل مهم د اړتیا وړ توکي له بهر څخه واردوي لکه استهلاکي توکي، چای، بوره، رخت، بوټان، ګوګړ، چیني

اسباب، سګرټ، غنم او نور همدارنګه د سینګار شیان، تولیدي وسایل، د ودانیو لوازم، صنعتي ماشینونه، موټر، الوتکې، تیل او نور په ۱۳۴۰ (۱۹۶۱) کال کې بهر ته د هېواد د صادراتو مجموعه دوه ملیارده او څلور سوه او دوه میلیونه او پنځه سوه او شپږ دیرش زره افغانۍ او له بهره څخه د وارداتو مجموعه یې څلور ملیارده او څلور سوه او نه پنځوس میلیونه او دو سوه او درې څلویښت زره افغانۍ وو. په دې توګه یې کسر دوه میلیارده او شپږ پنځوس میلیونه او اوه سوه او اوه زره افغانۍ کېږي. په ۱۹۶۱ کال کې رسمي ارقام د توکیو او خدمتونو کسر په لاندې توګه څرګندوي:

وارده توکي ۹۹.۱ میلیون ډالره

صادره توکي ۵۳.۴ میلیون ډالره

د هغو کسر ۴۵.۷ میلیون ډالره

د خدماتو د عوایدو یا کریدیتونه ۱۰.۰ میلیون ډالره

د خدمات تادیات یا ډېټ ۲۲.۵ میلیون ډالره

کسر یې ۱۲.۵ میلیون ډالره

نو د توکیو او خدماتو د کسر مجموعه ۵۸.۲ میلیون ډالره کېږي.

له دې پرته، د بهرنیو هېوادونو د پور ورکړه هم باید د افغانستان له همدغو صادراتو څخه وشي او یوې رسمي خپرونې له مخې د ۱۳۴۰ کال په پای کې د بهرنیو اوږدې مودې پورونو مجموعه نهه میلیارده افغانۍ یا دوه سوه میلیونه ډالره کېدل. د قسطونو ورکړه او د هغو مفاد، په یوه کال کې تقریباً لس میلیونه ډالره کېږي.

تر اوسه پورې (۱۳۴۴ - ۱۹۶۵) ټول بهرني پورونه ۵۰۳.۷ میلیون ډالره کېږي. همدارنګه له بهرنیو ۲۲۰ میلیونه بلاعوضو مرستو څخه هم استفاده شوې ده. د پورونو زیاته اندازه له شوروي اتحاد څخه اخیستل شوې دي چې ۴۱۴.۸ میلیون ډالره کېږي او بلا عوضه ډېرې مرستې د امریکې له متحده ایالتونو څخه اخیستل شوي چې ټولې یې ۱۳۱.۴ میلیون ډالره کېږي نور پورونه او مرستې د نړیوال بانک په ګډون له نورو هېوادونو لکه د آلمان اتحادي جمهوریت، چکو سلواکیا، انګلستان او نورو څخه دي. د پولي تکتانې ورکړه او د پورونو قسطونه (په کال کې تر یو لسو میلیونو ډالرو) پورې رسېږي چې په ۱۹۶۱ کال کې یې د افغانستان د ټولو صادراتو د بیې په سلو کې شل برخه جوړوله. ممکن د پورونو دغه ورکړه له ۱۹۷۰ کال څخه وروسته هم دوام و مومي. د بهرنیو پورونو د ورکړې سرچینې په یوه اوږده موده کې، بهر ته د افغانستان صادرات دي، چې د هغو په بدل کې به اسعار تر لاسه کېږي. د هېواد د وارداتي توکیو ګمرکي تعرفي د توکیو د بیو په سلو کې له یو څخه تر سلو پورې توپیر مومي. د زیات شمیر وارداتي توکیو تعرفې په سلو کې له ۳۵ - ۲۰ پورې دي. د صادراتي توکیو تعرفې له ۵- ۸۰ په سلو کې ټاکل شوي دي. د بېلګې په توګه له ۱۳۴۰ (۱۹۶۱) کال څخه مخکې له قره قل څخه په سلو کې ۷.۵ وریښمو څخه په سلو کې ۳۰ له پنبې څخه ۱۰، تازه انګورو څخه ۲۰، پستې څخه ۲۲، له غالیو څخه ۲۰، د وزو او پسونو له پوستکي څخه په سلو کې ۲۵ او له کولمو څخه ۵ او له طبي

Scanned by CamScanner

بوټو څخه په سلو کې ۳۰ وه. د ژوندیو څارویو، غلې، غوړیو، سرو او سپینو زرو، عتیقه مالونو او وارداتي مالونو صادرول ممنوع دي. د افغانستان بهرنی سوداګري په دریو ساحو کې تر سره کېږي کنټرول شوی ساحه (هند او پاکستان)، بارتري حوزه (شوروي اتحاد، چکوسلواکیا، پولند او د چین د خلکو جمهوریت) او د آزادې تبادلې ساحه (د امریکې متحده ایالات، د لویدیزې اروپا هېوادونه او جاپان). یعنی افغانستان له دیرشو څخه زیاتو هېوادو سره معاملات لري. له ۱۳۳۵ (۱۹۵۲) څخه تر ۱۹۲۱ کال پورې له کنټرول شوې ساحې سره صادراتي او وارداتي تجارت ډیر کم شوی دی او واردات په سلو کې له ۳۴ څخه په سلو کې ۱۰ ته را کم شوي دي، صادرات په سلو کې له ۲۴ څخه تر ۱۲ ته را کم شوي دي، په همدې موده کې بارتري حوزه کې صادرات په سلو کې له ۳۲ څخه ۵۷ ته او په آزاده حوزه کې صادرات په سلو کې ۵۲ او واردات ۳۳ ته رسیدلي دي. د افغانستان مهم صادرات قره قل، میوه (وچه او تازه)، وړۍ، پنبه، غالی، ټغر، د پسونو او وزو پوستکي او کولمې او حبوبات دي چې د ټولو صادراتو په سلو کې ۹۸ جوړوي. په دې ډله کې قره قل په ۱۳۴۰ (۱۹۲۱) کال کې د راکړې ورکړې په سلو کې ۲۹ برخه جوړوله چې د نیویارك او لندن په بیو یې ارزښت ټاکل شوی او حاصل یې اسعار وو. په همدې کال کې وچې میوې د صادراتو په سلو کې ۱۷ برخه جوړوله چې بازار یې د هند نیمه وچه او په سلو کې ۴۰ بارتري حوزه وه. پنبې د ټولو صادراتو په سلو کې ۱۲ برخې جوړولې، بازار یې په بارتري حوزه کې په سلو کې ۹۰ او نور بازار یې په لویدیزه اروپا کې و. ټغر او غالی د صادراتو په سلو کې ۱۷ برخې و چې په سلو کې ۸۵ یې لویدیزې اروپا ته صادریږي (په ۱۳۴۰ کې)، وړۍ د ټولو صادراتو په سلو کې ۱۵ برخه ده چې بازار یې شوروي اتحاد، اتازوني او یو لږ اندازه یې بریتانیا، چکو سلواکیا او پاکستان ته ځي. تازه میوه د صادراتو په سلو کې ۱۰ برخې جوړوي چې بازار یې په هند او پاکستان او بارتري حوزه ده. کولمې یو بل صادراتي توکی دی چې له یو څخه تر دوو میلیونو حلقو پورې لویدیز آلمان، اتازوني، هالند، سویډن او سویس ته صادریږي. په حبوباتو کې پنبه دانه تر ۹۰۰۰ ټنه پورې چکو سلواکیا او هند ته او کنځلی او کتان تر ۲۰۰۰ ټنه پورې شوروي اتحاد، هالند او د هند نیمې وچې ته صادریږي. طبي بوټي تر ۲۰۰۰ ټنو پورې هندوستان او ایران ته صادریږي. لرګی د یو میلیون ډالرو څخه په زیاته بیې پاکستان ته صادریږي. یو لږ اندازه خوږولې چین ته ځي. له دې پرته یوه اندازه د اوبښانو وړۍ، تنباکو، لاجبر او د لویو ښکرلرونکو څارویو پوستکي هم د هېواد د صادراتو یوه برخه ده.

د افغانستان د خامو توکیو تولیدات په کورني اقتصادي رژیم، اقلیمي پېښو او فني وسایلو پورې تړلي او د صادرولو اندازه یې هم له ګاونډیو هېوادو سره په سیاسي او اقتصادي اړیکو پورې تړلي دي، دا ځکه چې افغانستان خپله سمندري لاره له لاسه ورکړې ده او په وچه پورې وتړل شو. همدارنګه د افغانستان د تولیداتو بیه د ډیرو درنو ترانسپورتي لګښتونو له پرې کولو وروسته ټاکل کېږي، دا ځکه چې افغانستان په منځنی آسیا کې یوازنی داسې هېواد دی چې د وسپنې پټلی نه لري او آن دا چې د اقتصادي ژوند دغه یو مهم رکن یې هیر کړی دی. په دې توګه په ۱۹۲۱ کې د افغانستان د اجناسو او

خدماتو د صادرولو ارزښت شپږ میلیونه ډالرو یا درې میلیارده افغانیو ته رسید (یو ډالر ۵۰ افغانۍ کېږي) چې د ټول ملي نا خالص محصول په سلو کې لس جوړوي په دې صورت کې کلنی نا خالص ملي محصول شپږ سوه میلیونه ډالره یا دیرش میلیارده افغانۍ کېږي چې د هېواد د نفوس هر تن ته دوه زره افغانۍ یا څوینبت ډالره رسېږي دې یوې بهرنی سرچینې له مخې د افغانستان د نفوسو د هر تن کلنی عاید شل ډالره یا زر افغانۍ دی، او دا په ټوله نړۍ کې تر ټولو کم عاید دی.

له بهر څخه د افغانستان واردات په دوه ډوله دي یو یې استهلاکي توکي او بل یې د صنعتي ارزښت لرونکی توکي لومړی ډول یې غذایي یا خوراکي توتکي (بوره، چای اوړه)، د تنبکو محصولات، رختونه، جامې او پوټان، طبي اړتیاوې، صابون او د کور وسایل، د سینګار وسایل، دوام لرونکي استهلاکي توکي او یو شمیر نور دي، چې په ۱۹۷۱ کال کې د ۱۵۴۸۰۰۰۰۰ افغانیو یا ۳۴۴ میلیون ډالرو په بیه وارد شوي دي دوهم ډول یې لکه نفتي مواد، ټایر او ټیوپ، څمکنی عرادې، فلزات، دودانیو توکي، ماشینونه او نور دي، په همدغه کال د ۲۵ میلیونو ډالرو په بیه (چې ۲۹۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ کېږي) وارد شوي دي د پورتنیو توکیو ټوله بیه ۴۴۷۳۰۰۰۰۰ افغانۍ کېږي

په ۱۳۴۰ (۱۹۶۱) کې د افغانستان د مهمو وارداتي مالونو مهمې سرچینې د اوې:

| | |
|---|---|
| غنم | شوروي اتحاد او د امریکې متحده ایالتونه |
| بوره | شوري اتحاد |
| چای | هند، د چین د خلکو جمهوریت او شوروي |
| تاري ټوکران او تار | هند، پاکستان شوروي اتحاد او جاپان |
| سنډي ټوکران | جاپان |
| نور نوی رختونه او جامې | جاپان او د لویدیزې اروپا هېوادونه |
| بوټان | پاکستان، جاپان، شوروي اتحاد، چکوسلواکیا، بریتانیا او هند |
| کارول شوې جامې | د امریکې متحده ایالات |
| طبي سامان او درمل | د لویدیزې اروپا هېوادونه |
| د کور وسایل | د لویدیزې اروپا هېوادونه |
| رادیو، برقي سامان او نور | جاپان او د لویدیزې اروپا هېوادونه |
| چیني لوښې | جاپان او لویدیزې اروپا |
| فلزي لوښې | جاپان او شوروي اتحاد |
| ګوګړ | هند |
| نفتي محصولات | شوروي اتحاد |
| رېړین ټایرونه او ټیپونه | متحده ایالات، د لویدیزې اروپا هېوادونه |
| په څمکنی سړکونو تلونکی موټر | متحده ایالات، شوروي اتحاد او د لویدیزې اروپا هېوادونه |

Scanned by CamScanner

بایسکل جاپان او د لویدیزې اروپا هېوادونه

ماشینونه شوروي اتحاد، د امریکې متحده ایالات او لویدیزه اروپا

په ۱۳۳۷ (۱۹۵۸) کال کې د یوې بهرنۍ احصائیې له مخې، د افغانستان بهرنۍ سوداګري له پانګوالي هېوادو او سوسیالستي هېوادو سره د سلنې له مخې لاندې توګه وه:

| تدویر | واردات | | صادرات |
|---|---|---|---|
| سوسیالستي هېوادونه | ۲۳.۹ | ۴۱.۰ | ۲۲.۰ |
| پانګوالي هېوادونه | ۲۲.۱ | ۵۹.۰ | ۷۴.۰ |

## ۷. د پیسو دوران

په افغانستان کې شپږ بانکي موسسې شته چې له هغو څخه درې یې دیپازیت بانکونه (د افغانستان بانک، پښتني تجارتي بانک او ملي بانک) او درې نور (رهني بانک، کرنیز بانک او د صنعتي پرختیا بانک) مال یې مؤسسې دي چې دیپازیت یې لږ دي. بانکنوټونه د مرکزي بانک (د افغانستان بانک) له خوا خپرېږي. په ۱۹۶۰ کال کې د پیسو عرضه ۲۵۳۲۰۰۰۰۰۰ وه چې د څلورو کالو مخکې په پرتله یې زیاتوالی په سلو کې ۲۳ دی.

دغه زیاتوالی په چلند کې د لویدلو فلزي پیسو او بانکنوټونه په زیاتوالي تکیه درلوده، په داسې حال کې چې خصوصي امانات ډېر لږ وو. په همدې کال د مرکزي بانک سره زر او سپین زر او اسعار کم شوي دي. د دغه بانک د سپین زرو، سرو زرو او اسعارو شتمني ۱۵۷۹۰۰۰۰۰۰ افغانۍ وه. په سرو زرو او سپینو زرو سره د بانکنوټونو پشتیوانه په سلو کې ۴۵ وه، وروسته بیا و پتېیل شوه چې پشتیوانه دې په سلو کې ۳۰ وي. د امریکا په فدرال بانک کې د مرکزي بانک د سرو زرو شتمني چندان زیاتوالی نه دی موندلی. د افغانستان دیپازیت بانکونه چې د څه نا څه یو میلیارد افغانیو په پانګه کار کوي، لږ زیرمې لري او د خلکو امانت ترې هم لږ دي. ملي بانک چې په پیل کې د یوه سهامي شرکت په بڼه د څو سوه میلیونه افغانیو په پانګې سره د ونډه لرونکو په واک کې و او د انحصار د حق په لرلو سره یې سوداګري کوله، نن ورځ هم د هېواد دننه او هم بهر په سوداګرۍ بوخت دی (په دې وروستیو کې یې په صنعت هم لاس پورې کړی دی)، او له هغه کریډیټ څخه چې ور کوي یې په کال کې له ۸-۱۲ په سلو کې سود اخلي. د سوداګریز بانک کلنۍ ربح په سلو کې له ۸ - ۹ پورې ده. په هر حال؛ په افغانستان کې د بانکنوټونو د خپرولو پر له پسې زیاتوالی، سره له دې چې تر یوې اندازې پورې د صادراتو او وارداتو په لوړولو کې مرسته کړې، خو د تولید د کمښت له امله په کورني بازار کې د بیو د لوړېدو لامل شوی دی. نو څکه پولي پړسوب (تورم) تر سترګو کېږي او د وارداتي توکیو بیې په نړیوال بازار کې لوړې شوې. نو په دې توګه په افغانستان کې د نفوسو د هر سړي په سر د خپرو شویو پیسو اندازه په ټوله نړۍ کې تر ټولو ټیټ کمیت لري.

## اسعار

افغانستان خپله اسعاري اړتیا بهرنیو بازارونو ته د توکیو د صادرولو له لارې پوره کوي. خو ددغو اسعارو حاصل د هېواد د پرمختیایي پروژو لګښتونه نشي پوره کولای. د بېلګې په توګه د لومړي پنځه کلن پلان په ترڅ کې تر ۱۳۴۰ کال پورې لګښتونه تر ۱۰.۳ میلیارده افغانیو پورې ورسیدل. په داسې حال کې چې پروژې په خپل وخت بشپړې نه شوې او دا وښودل شوه چې د هغو د بشپړولو لپاره نورې ۱۲.۵ میلیارده افغانۍ په کار دي او د لومړي پلان د ګټه اخیستو لپاره یو شمیر نورو مؤسساتو ته اړتیا ده. نو د دوهم پلان لپاره ۳۱ میلیارده افغانیو پانګې ته اړتیا ولیدل شوه. د لومړني پلان په پنځه کلنه دوره کې، د متخصصینو له نظر سره سم، د لږ اندازې زیاتوالي سره سره د دوه سوه او څو زره هکتاره ځمکې په کرل کیدو سره کرنیز وضعیت او کرنیزو حاصلاتو په تیره بیا د غنم، وریشو، جوارو او وریجو حاصلاتو چندان زیاتوالی و نه موند. ددغه پلان په ترڅ کې پنبې په سلو کې لس زیاتوالی و موند، مالداري ښه والی و نه موند. دا ځکه چې د کرنې په تولو برخو کې دستورونه سم نه وو، د مالیاتو ورکړې نیمګړتیا درلوده او لږ محصولات تر لاسه شو. د ایران، مصر، هند او پاکستان په پرتله د افغانستان د اقتصاد ټیټه کچه د اقتصادي فعالیتونو ناکافي پرمختګ او سستوالي پایله ده چې لامل یې زاړه اقتصادي روابط او یو اړخیز زراعتي کرکتر دی. ددغه یو اړخیزه کرنیز روش په پرمخ بیولو سره نشو کولای د هېواد اقتصادي خپلواکي ډاډمنه کړو. صنعتي توکیو ته د خلکو تقاضا زیاته ده، خو تولیدي وړتیا ډیره لږه ده. د ماشینونو، فلزي وسایلو او نفتي توکیو په پرتله د اسعارو زیرمه زیاته په استهلاکي شیانو لګول کېږي. حال دا چې دغه ډول زیات شمیر وارداتي توکي په خپله د هېواد دننه له کاني او کرنیزو سرچینو څخه چمتو کولای شو. که چیرې د هېواد دننه د صنعت د اړونده څانګو پرمختیا ته وکتل شي او یواځې لږ پیدا کیدونکې توکي او د سون توکي او نور خام کمیاب مواد وارد شي، نو اسعاري لګښتونه به تر یو میلیارد افغانیو هم را ټیټ شي. همدا ټکي د افغانستان د صنعتي کیدلو اړتیا ښکاره کوي. که چیرې د سون توکي، خام توکي او استهلاکي توکي د هېواد دننه تولید شي، نو د ماشینونو او تجهیزاتو د واردولو فرصت لوړیږي او پورونه به ادا شي او د صنعت د پرمختیا لپاره (په تیر، د درانه صنعت، د نفتو تولید، اوسپنې د ویلې کولو او پولاد جوړولو، کیمیاوي توکیو د تولید او د ماشین جوړولو او برېښنا تولید ته) به لار هواره شي او د هېواد د اقتصادي خپلواکي په لاره کې به یو ګام اوچت شي، په نا محدوده بڼه د استهلاکي توکیو واردول، د ملي ضایعو د پرمختګ مخه نیسي او عایدات مو کمېږي، په داسې حال کې چې د استهلاکي وارداتو د خرڅلاو ګټه یواځې د سوداګرو په کړه کې بنده پاتې کېږي، خو د ملي ضایعو د پرمختیا لپاره ګټه نه کوي. په هر حال؛ د پرمختیایي پانګې اچونې لپاره د هېواد دننه او بهر پورونو ته لاس واچول شو، په لومړي پلان کې په سلو کې ۲۵ پانګه له بهرنیو پورونو څخه وه او په دوهم پلان کې دغه سلنه (۷۰) ته لوړه شوه.

د کورنیو مالي ستونزو د حل لپاره (چې زیاتره یې لامل د کورنیو تولیداتو ټیټه کچه، د بچت نشتوالی، د کورنیو عواید په را ټولولو کې نمیګړتیا، د اداراتو تجملي لګښتونه او اسراف. د لوکسو توکیو

واردول، تفریحي سفرونه، په بهر کې د افغاني نماینده ګانو اضافي لګښتونه او نور و، له مرکزي بانک څخه پور اخیستل پیل شول په ۱۳۴۰ کال کې له بانکونو څخه د حکومت پور ۳۴۲۰۰۰۰۰۰۰ افغاني شو، نو د پیسو عرضه زیاته شوه. حال دا چې کورني تولیدات د پیسو له اندول سره سم زیات نه شول په دې توګه د هېواد مالي بیلانس ګډوډ شو، د پیسو حجم پړسوب و موند او د توکیو بیې لوړې شوې په دغو ناوړه شرایطو کې. ډالري اسعار لوړ شول او د هر ډالر بیه له ۳۰ - ۷۰ افغانیو پورې اوچت شو.

## ۸. د دولت مالي وضعیت

په ۱۳۴۰ (۱۹۶۱) مالي کال کې د دولت عواید، لګښتونه او پورونه په میلیون افغانیو سره په لاندې توګه وو:

| | |
|---|---|
| عواید: | |
| کورنی عواید (د یو ډالر تسعیر ۲۰.۲۵ - افغاني) | ۲۳۰۳.۵ میلیونه افغاني |
| بلا عوض مرستې | ۸۲۲.۲ میلیونه افغاني |
| ټول عداید | ۳۱۹۲.۷ میلیونه افغاني |
| لګښتونه: | |
| عادي لګښتونه | ۱۵۲۲.۰ میلیونه افغاني |
| پرمختیایي لګښتونه | ۱۵۴۹.۹ میلیونه افغاني |
| ټول لګښتونه | ۳۱۱۵.۸ میلیونه افغاني |
| د بهرنیو مرستو په واسطه پرمختیایي لګښتونه | ۱۳۹۰.۳ میلیونه افغاني |
| د ټولو لګښتونو مجموعه | ۴۵۰۲.۱ میلیونه افغاني |
| تنقیص (-) | ۱۳۳۲.۴ میلیونه افغاني |
| د تنقیص تمویل: | |
| بهرني پورونه | ۵۲۴.۱ میلیونه افغاني |
| له افغانستان بانك څخه پور | ۷۸۵.۸ میلیونه افغاني |
| د کال په پیل کې خزانه کې مجودې پیسې | ۲۲.۵ میلیونه افغاني |
| ټولې | ۱۳۳۲.۴ میلیونه افغاني |

د لګښتونو په جلا کولو سره د دولت د بودجې لګښتونه، په دغه کال کې په میلیونه افغانیو سره په لاندې توګه وو:

| | |
|---|---|
| د دربار وزارت | ۲۰.۰ |
| د دفاع وزارت | ۵۵۲.۸ |
| د کورنیو چارو وزارت (پولیس) | ۱۱۲.۱ |

Scanned by CamScanner

| | |
|---|---|
| د معارف وزارت | ۱۹۱.۸ |
| د پوهنتون ریاست | ۱۱۲.۹ |
| د عامې روغتیا وزارت | ۹۲.۰ |
| د کرنې وزارت | ۷۰.۸ |
| د کانو او صنایعو وزارت | ۲۲۵.۸ |
| د فواید عامې وزارت | ۸۹۴.۳ |
| شورا | ۹.۹ |
| د مشرانو جرګه | ۰.۴ |
| عظمی صدارت | ۱۲.۷ |
| د بهرنیو چارو وزارت | ۴۸.۰ |
| د عدلیې وزارت | ۱۰.۷ |
| د مالیې وزارت | ۷۳.۱ |
| د مخابراتو وزارت | ۴۳.۱ |
| د پلان وزارت | ۱۴.۴ |
| د مطبوعاتو وزارت | ۹۴.۹ |
| د سوداګرۍ وزارت | ۵.۸ |
| د قبایلو ریاست | ۴۴.۲ |
| د روغتیایي موسسو ریاست | ۲۰.۴ |
| د المپیک ریاست | ۱.۲ |
| د ملکي هوایي چلند ریاست | ۱۰۳.۱ |
| د ترانسپورت ریاست | ۱۴.۷ |
| د هیرمند د ناوې ریاست | ۷۸.۸ |
| د کلیو ریاست | ۱۱.۷ |
| د کارتو ګرافي ریاست | ۷.۵ |
| د مالیې وزارت نماینده ګی | ۴۹.۲ |
| د تکتانې او پورونو د قسطونو ورکړه: | |
| پولي | ۱۹۱.۱ |
| ټول | ۳۱۱۵.۸ |

په دغه مالي کال کې د دولت عواید په ملیون افغانیو:

سیده مالیات) په انفرادي عایداتو، د شرکتونو پر عوایدو، په نا منقول او شخصي جایداد مالیات) ۳۰۱.۵

نا سیده مالیات( پر وارداتو، پر صادراتو، د استهلاکي مالونو پر خرڅلاو او پر انحصاراتو) ۱۱۲۱.۰

| | |
|---|---|
| د جایداد پر خرڅلاو او په خدماتو باندې مالیات | ۹۳.۴ |
| د جواز نامې، فیس او جرایمو له درکه عایدات | ۲۲.۲ |
| د جایداونو او پیسو د استعمال له درکه عایدات | ۱۰۳.۵ |
| د دولتي تصدیو له درکه عواید | ۲۴۲.۲ |
| نور عواید (مرستې او نور) | ۷۷.۴ |
| نه لیدونکی عواید (د سرو زرو بیا ارزښت موندنه او نور) | ۸۸.۷ |
| نوې منابع (د موټرو په بیو کې بدلون) | ۲۰۴.۸ |
| د کورنیو عواید و مجموع | ۲۳۰۳.۵ |
| بهرنی بلاعوضه مرستې | ۸۲۲.۲ |
| ټوله مجموعه | ۳۱۲۹.۷ |

تر ۱۹۲۳ کال پورې د دولت عواید او لګښتونه اوچت شول، او د رسمي خپرونې له مخې د بودجې موازنه په ۱۳۴۲ کې د دولت د عوایدو او لګښتونو له مخې داسې وه:

عایدات: پنځه بلیارده او درې دیرش میلیونه افغانی.

له دې جملې څخه سیده مالیات د ټولو عایداتو له جملې څخه په سلو کې ۸.۴۱، له هغې جملې د ځمکو مالیات په سلو کې ۳.۱۸- د ټولو عوایدو څخه - او د څارویو مالیات په سلو کې ۱.۷۳ له ټولو مالیاتو څخه وو.

د ټولو عایداتو څخه ناسیده مالیات په سلو کې ۳۲.۷۲ و. ګمرکي مالیات د ناسیده مالیاتو ډیره زیاته برخه وه چې د ټولو مالیاتو په سلو کې ۱۹.۳۷ و.

د دولت پورونه د ټولو عایداتو په سلو کې ۲۹.۷۲ یعنی ۵۰۰۰۰۰۰۰۰ افغانی وو چې له هغو څخه د مرکزي بانك پورونه د ټول پور سلو کې ۹.۹۲ یعنی ۹۹۸۰۰۰۰۰۰ او بهرنی پورونه په سلو کې ۱۹.۸۳ وو.

د دولت نور عواید د ټولو عوایدو په سلو کې ۲۹.۰۷ وو.

لکه چې لیدل کېږي د انفرادي او شرکتونو په عوایدو باندې مالیات ډیر ضعیف دي چې ذغه دواړه برخې په کال کې د دولت د عوایدو په سلو کې ۳.۵۰ برخه جوړوي، حال دا چې د دولتي تصدیو عاید د ټولو عایداتو په سلو کې ۱۴.۷۰ ده. د ګمرکي عوایدو زیاتوالی په افغانستان کې د سوداګریزو فعالیتونو پرمختګ ښيي، سره له دې چې یو څه لامل یې د بیو جګوالی دی.

لګښتونه: پنځه میلیارده او درې دیرش میلیونه افغانی.

له هغې جملې څخه د فواید عامې لګښتونه د ټولو لګښتونو له جملې څخه ۱۹.۵۳ فیصده وو.

د دفاعي چارو لګښتونه د ټولو لګښتونو په سلو کې ۱۲.۲۵

Scanned by CamScanner

| | |
|---|---|
| د کورنیو چارو وزارت او ژاندارم | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۲.۸۷ |
| د کانو او صنایعو لګښتونه | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۱۱.۴۲ |
| عمومي لګښتونه | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۸.۹۱ |
| عامه روغتیا | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۲.۲۳ |
| د بهرنیو چارو لګښت | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۱.۵۷ |
| د کلیو پرمختیا | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۰.۵۵ |
| مخابرات | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۱.۰۴ |
| د کرنې وزارت | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۲.۴۰ |
| ترانسپورت | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۰.۱۰ |
| د هیرمند ناوه | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۲.۲۱ |
| دولتي مطبوعات | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۲.۳۱ |
| المپیک | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۰.۰۵ |
| پورونه او پولي تکتانه | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۱۱.۱۷ |
| نور لګښتونه | د ټولو لګښتونو په سلو کې ۲۰.۱۵ |

دغه ارقام د افغانستان اقتصادي وروسته پاتیوالی څرګند وي چې د دولت ټول عواید په یوه کال کې (پنځه میلیارده او درې دیرش میلیونه افغانۍ) شوي. حال دا چې له دې جملې څخه په سلو کې ۲۹.۷۲ یعنی دریمه برخه یې له بهرنیو او کورنیو پورونو څخه چمتو شوي ده.

د افغانستان دوهم پنځه کلن پلان هم د یو دیرش میلیارده او درې سوه او اوه پنځوس نیم میلیونو افغانیو لګښت لرونکی و چې درویشت میلیارده او شپږ سوه او یو نیم نوي میلیونه افغانۍ یې له بهرنیو مرستو څخه او څلور میلیارده او درې سوه یو نوی میلیونه یې له کورني پور څخه او دوه سوه او اته شپیته میلیونه او یو سل او څو زره افانۍ یې له انفرادي تشبث څخه پوره شوې وي. په دې کې د کورنیو منابعو برخه یوازې درې میلیارده افغانۍ وې او بس.

# دوهم څپرکی

## افغانستان له ډېر پخوا څخه تر میلاد څخه شپږ پېړۍ وړاندې پورې

## لومړی

### ډېر پخوا

زرګونه کاله په کار وو چې نیم لوڅ او وحشي انسان د تمدن پړاو ته ورسېږي. دا څکه چې لوی بدلونونه په پیل کې ډېر ورو او ځنډني وي. دغه لوی بدلونونه په هر ځای او هر وخت کې یو شان هم نه وي، بلکې په بېلا بېلو شرایطو کې په بېلا بېلو پړاوونو کې د چاپېریال او ټولنیز حالت له مخې را څرګندېږي. له همدې امله لرغوني تمدنونه، چې د بشري ټولنو د بشپړتیا استازیتوب کوي، یو بل څخه توپیر مومي. د بېلګې په توګه د بین النهرین په سیمو کې یا د کلدي په سیمه کې چې د ډېر پخواني تمدن زړي دي، تاریخ یې له میلاد څخه پنځه زره کاله مخکې ته رسېږي او د نجومو، ریاضي او طب د علومو پیل هم له همدې ځایه و. د تمدنونو دوهم نغری په افریقې کې د مصر هیواد دی چې له میلاد څخه درې زره کاله مخکې یې د حکمت، ریاضي، طب او نجومو په برخه کې معلومات درلودل. د تمدن د بځرکیو درېیم نغری د مدیترانې او فلسطین ختیزې غاړې دي چې هلته فنیقیانو او بني اسرائیلو له میلاد څخه له درې زرو څخه نیولې تر دوه زره کاله مخکې پورې په سمندر ګرځېدو، سوداګري، صنعت، نساجي؛ په تېره د فنیقي نامتو الفبې په رامنځته کولو او همدارنګه بني اسرائیل د توحید، دیانت او د دولت په جوړولو کې لومړی ګام ایښی دی. څلورم نغری د چین هیواد دی چې تاریخ یې له میلاد څخه درې زره کاله مخکې پیل کېږي. چین د یوه جلا - ځانګړې تمدن لرونکی او د نساجي، انځور ګري، تېرې تورېولو، رنګ جوړولو، کاغذ او باروت جوړولو، موسیقي، ادبیاتو او فلسفي په برخه کې پرمخ تللی و او مهم فلاسفه، منجمین او تاریخ لیکونکي یې لرل. د تمدن او هڅووب پېنځم کانون او مرکز د آریان لوړې او د هندوکش دوه اړخونه (افغانستان او ایران) دي. افغانستان له میلاد څخه له درې زره تر دوه زره کاله مخکې پورې د پرمختللې کرنې او اوبو لګولو لرونکی و چې د ډېر نفوس لرونکی او خواګمن ښارونه یې لرل. له میلاد څخه زر کاله مخکې لاسي صنایع، سکې، طب، نجوم، اوبدلو او فلز کارې دلته وو. شپږم کانون او مرکز هند دی چې له میلاد څخه یو نیم زر کاله مخکې په شریعت او قانون، الهي حکمت او فلسفه، منطق، ریاضیات، طب او نجوم پوهېدل او یو خپلواک تمدن (هڅووب) یې درلود چې وروسته بیا په دکن او سیلون کې هم خپور شو. اوم مرکز په اروپا کې د یونان او ایټالیا دوه ټاپووزمې وې چې تمدن یې له میلاد څخه زر کاله مخکې دوران ته رسېږي. یونان د هندسې، نجومو، فلسفې،

طب، او ریاضي په برخه کې یو خواکمن بنسټ کیښود او په ټوله نړۍ کې د دغه تمدن د خپریدو سرچینه وه. همدارنګه لرغونی روم چې د یونان له علومو او پوهې څخه یې رڼا اخیستې وه، د نړۍ په یوه برخه کې د تمدن او پوهې د خپریدو سرچینه وه. دغه ټول تمدنونه د بشریت د لویو ډلو په ډېر زیات کار او کړاو رامنځته شوي وو، کله به چې د وخت په ترڅ کې د ټولنو د پرمختګ خنډ کیدل، د خلکو په لاس به بېرته وران او یو بل نوی هڅوب به یې پر ځان ودان شو

## خو افغانستان

د افغانستان د تاریخي دورې یوه ځانګړتیا داده چې د نړۍ ډېرو زیاتو تمدنونو سره آشنا دی په دې معنا چې د بین النهرین، د مدیترانې د ختیزو څنډو، مصر او ایران، روم او یونان تمدنونه یو بل سره آشنا او ځیني وخت یو بل څخه اخیستل شوي دي، حال دا چې د هندوستان او چین تمدنونه هر یو بېلا او ځانګړې وو.. په دې منځ کې افغانستان له یوې خوا د مدیترانې د غاړو تمدن سره آشنا و او هم له هند او چین سره په راکړه ورکړه کې و. افغانستان د شمال له لوري د مرکزي آسیا له دښتو سره نژدې او پولې ورسره لري او له ډېرو پخوا راهیسې چې تاریخ هغه وختونه نه دي ښودلي، د انسانان میشت ځای و. دا ځکه چې د مرکزي آسیا دښتې د بشریت د تمدن یو ډېر لرغونی کانون و. له همدې امله د افغانستان تاریخ د مرکزي آسیا له تاریخ سره تړلی، خو د شمالي هندوستان او ایران تاریخ بیا له افغانستان سره تړلی دی. ددې لامل دادی چې ددغو سیمو خلکو د پیړیو پیړیو په ترڅ کې د افغانستان او د منځنۍ آسیا له خلکو سره یو ځای ژوند کړی او په یوه ژبه یې ورسره خبرې کړي دي، آن هغه وخت چې تر بېلا بېلو شرایطو او عواملو لاندې ملتونه وویشل شول هم دوی ګډ ادبي، طبیعي، نفسي او جسمي خصوصیات درلودل. د دوی ترمنځ اړیکې له نورو ملتونو سره د اړیکو په پرتله جوت اړخ درلود او د اوږدې مودې په ترڅ کې د ښین چاپیریال او عقایدو د دوام او ملي ورته والي له امله د دوی ژوند سره یو شان و. همدغه د طبع نژدیوالی د دوی د نیکونو د اعمالو او تجربو پایله وه. په تیره بیا افغانستان، ایران او ماورالنهر (مرکزي آسیا) چې د پیړیو په ترڅ کې د ګډ تمدن او پرمختګ لرونکي وو، او یو بل سره یې نژدیوالی د دوی د هڅوب او روزنې ګډې ځانګړنې ښېرې او خپلې کړې دي.

په هر حال؛ د افغانستان له ډېرو لرغونو وختونو څخه تر اوسه پورې پوره اثار او معلومات نشته یواځې د قره کمر - هیبك له سمڅو څخه د بکرې د تیږې وسلې او د هډوکو وسایل موندل شوي دي چې د تیږې د ډېرې لرغونې دورې خلکو پورې اړه لري. دغه وسایل خلکو د خوراك د تر لاسه کولو په خاطر د غرنیو پسونو، غرڅو او وحشي آسونو د ښکار کولو لپاره په کار وړل، چې وروسته بیا د میوې او دانو د را ټولولو لپاره په کار تلل. دا هغه دوره وه چې انسان د حیوانیت له دورې څخه را جلا شو، خو لا هم په کرنه، صنعت او د کورونو په جوړولو نه پوهید. نو ځکه سمڅو ته ننوتل او له ځاورویو سره له جګړې پرته بل کار یې نه و. ددغو خلکو فعالیت د نا اواره تیرو تورډل او تیره کول و چې په هغو سره د ځان ساتنه او ښکار وکړي. د لرغوني افغانستان یوه مهمه سمڅه د بامیان د دري پنځوس متري بت څخه یو

کیلومتر لري د (چهل ستون) سمڅه ده. په عمومي توګه ویل کیدای شي چې د افغانستان ټولنه له میلاد څخه له شلو زرو کلونو څخه مخکې وه او د تیږې تر نوې دورې (چې له میلاد څخه نهه زره کاله مخکې شروع کیږي) پورې یې د بشپړتیا بیلا بیل پړاوونه تیر کړي او له یوې طآیفوي موروواکې او اشتراکي لومړنۍ ټولنې څخه د فلزاتو دورې ته اووښتې ده. همدا وخت مسو د تیږې د وسایلو ځای فیولي او غشي، جرې، بیل او نور وسایل جوړ شول دا وخت د کلالي صنعت وده وکړه. د توکیو راکړې ورکړې او په څارویو سره د هغو لیږدول رواج و موند. څاروي روزنې او د کرنې پرمختګ د نارینه دریخ پیاوړی کړ او د ښځې لوړ دریځ له منځه ولاړ. د پلار واکې پر مهال سره له دې چې خصوصي مالکیت د اشتراکي مالکیت ځای ونیو (د کور، څارویو، صنعتي کورنیو تولیداتو برخه کې). خو ځمکه بیا هم د یو وګړي له واک څخه بهر وه. دا ځکه چې اوبو لګولو ته یې اړتیا درلوده او دا کار یو تن نشو کولای نو ځکه د ځمکې مالکیت ډله ییزو، دغه حالت پیړۍ پیړۍ دوام و موند.

امریکایي (ډاکتر لویي دوپري) د ۱۹۶۵ کال د کنیدنو په ترځ کې د مزار شریف د ښار په جنوب کې د بلخ د سیند تر غاړې په (آق کپرک) سیمه کې یو شمیر آثار لکه برنجي آیینه، ګوتمۍ، بنګړي، وسلې او دآس قیزه او د لاجبرو نګین (غمی) چې په ګوتمیو کې و. و موندل چې له میلاد څخه د دوه زره او نهه زره کاله مخکې دوران یعنی د تیږې نوې دورې پورې یې اړه درلوده. په همدغه پراخه سیمه کې وزې او پسونه وو او دا د هغې سیمې دننه یوه برخه ده چې لومړی ځل یکې د خوراك دانې وکرل شوې او څاروي په دې سیمه کې اهلي شول. داکتر لویي دوپري عقیده لري چې دغه آثار د ځمکې د ژورو یوې دورې (له میلاد څخه شل زره کاله مخکې) پورې اړه لري او د دې دورې استازیتوب کوي چې دغه ډول آثار تر او سه پورې له هندوستان او مرکزي آسیا څخه نه دي موندل شوي.

د کندهار په شمال کې د پنځه پنځوس کیلو مترو په واټن کې د (مندیګک) په سیمه کې په ۱۹۵۱ کال کې د کیندنو په ترځ کې دا جوته شوه چې د افغانستان خلك له میلاد څخه درې زره کاله مخکې میشت او په کیلو کې اوسیدلي دي او له خامو خښتو څخه یې ځانونو ته کورونه جوړ کړي دي. کرنه او مالداري یې پر مخ بیولي ده. تر لاسه سشوې ګانې او لوښیي. وسلې. د کودوړي لوښیي او مسي لوښیي هم چې هندسي بڼې لري، د هغه وخت د پیشه وري او چته کچه ښکاره کوي. د ودانیو پر مخ هم د (نیم ستونونه) ښکاري. مندیګک دا څرګندوي چې افغانستان له میلاد څخه له زرو کالو نیولې تر درې زرو کالو پورې د سند او ایران ترمنځ د لارې پر سر پروت و. له میلاد څخه دوه او درې زره کاله مخکې د کرنې ښه پرمختګ او په جنوبي سیمو کې د افغانستان د خلکو لوړ فرهنګ د پام وړ و چې د بلوچستان له لارې یې د (موهنجه او دیر) له لرغونو تمدنونو سره نژدې اړیکې درلودې. همدارنګه د غنمو د بیلا بیلو ډولونو کیفیت له مخې. افغانستان په نړۍ کې لومړنی ځای درلود، یعنی د بوټو د کرلو یو لومړنی مرکز پیژندل شوی دی.

سره له دې چې د افغانستان د لومړنۍ ټولنې او اشتراك دورې یا بې طبقې ټولنې په هکله ښې نښانې نه دي څرګندې شوي. خو ددغه هېواد له وروستي ټولنیز جوړښت څخه یو څه معلومات شته چې په هغه

کې پلار د کورنۍ مشر، سپین ږیري او لویان د طایفې مشران وو. د څو طایفو له یو ځای کېدو څخه قبیله جوړېده چې مشر به یې په انتخابي طریقه ټاکل کېده. ځینې وخت به له څو قبایلو څخه یوه لویه ټولنه رامنځته کېده. داسې ښکاري چې افغانستان له مېلاد څخه څو زره کاله مخکې یوه لوی ټولنیز بدلون سره مخامخ شوی او د دغه بدلون په پایله کې کرنې، اوبو لګولو او د کار وسایلو پرمختګ کړی او طبقاتي ټولنې ته رسېدلی. د سیستان د (نادعلي) په سیمه کې د پخوانیو ماتیو پاتې شونې هم د افغانستان د پخوانۍ ټولنې د طبقاتي جوړښت ننبه ده.

البته، د کرنې او اوبو لګولو پر مختګ د شنو ناوو او ګڼ میشته او شتمنو ښارونو د را منځته کېدو لامل شوی دی. دغه ډول شتمن ښارونه ځینې وخت د بدوي قبایلو تر یرغل لاندې راتلل. د بلخ ډېر لرغونی ښار چې د باختر سیاسي او اقتصادي مرکز و، تل د مرکزي آسیا د هغو تورایي سپرو تر یرغل لاندې راته چې په کېږدیو کې اوسېدل. په دې توګه د تورایي یرغلګرو په وړاندې د دفاع اړتیا، په افغانستان کې د یوه ځواکمن دولت د جوړېدو لامل وه. د طبقاتي ټولنې د ژوند شرایط هم د دولت د جوړېدو لامل شو تر څو دغه تشکیل و کولای شي په خپله سیمه کې (حکمیت) وکړي او د خطر په حالت کې، د جګړې چارې پر مخ بوځي. دا ځکه چې همدا د لومړنیو حکومتونو دوه بنسټیزې دندې وې.

وروسته بیا دولتونه ځواکمن شول او د نورو غښتو او وړو چارو په تر سره کولو یې هم پیل وکړ.

په هر حال؛ د افغانستان له پخوا وختونو څخه کیسې او اسطورې دا څرګند وي چې په هغو کې پخوانی تاریخ او شهنامې راغلي دي تر ټولو نامتو کیسه د (ازی دها کایا د مارانو ضحاک) ده. یعنی دا د بین النهرین د څور زره کاله پخوا سامي پاچا و چې ګواکې د ایران له لارې یې پر افغانستان یرغل کړی او د افغانستان پیشدادي دولت یا پارا دات ته یې د هغه په پلازمېنه، بلخ کې ماتې ورکړه او جمشید یاد بلخ یما پاچا خپل د پاچاهي خول له لاسه ورکړ او بل پشدادي پاچا (فریدون یا تري تونا) پاڅون وکړاو په بین النهرین کې یې لښکر را ویویست او ضحاك ته یې ماتې ورکړه

همدارنګه د آثوری باچا (نینوس) داستان وایي چې هغه د ایران او ارمنستان له لارې په رزمه مېلادي پېړۍ کې افغانستان ته راغی او بلخ یې ونیو. شهنامو د افغانستان د لرغونو دولتونو لکه پیشدادي او کیاني (کواني) او اسپه پاچاهانو له لړۍ څخه لوی رزمي داستانونه بیان کړي دي. په هر حال؛ د همدغو ټولنیزو بدلونو په ترځ کې د افغانستان خلك له اساطیري پړاو او عنصر لمانځنې څخه تېرا و بیا میتالوژۍ ته رسېدلي او په پای کې مذهبي پړاو ته رسېدلي دي. ددغې بشپړتیا پایله له مېلاد څخه زر کاله مخکې د نړۍ په یوه تر ټولو لرغوني کتاب (اوستا) کې ښکاري

# دوهم
# د اویستا پر مهال

اویستا یو لرغونی کتاب دی چې د بلخي زر تښت یا زراتشترا له خوا را منځته شوی دی سره له دې چې د هغه د لرغونتوب ټاکل ستونزمن کار دی، خو بیا هم داسې اټکل کېږي چې له میلاد څخه به د زرو کالو پخوا وختونو کې لیکل شوی وي په دې توګه یو اخې د «ریګویدا» سرودونه چې د برهمنیانو کتاب دی او په افغانستان کې له میلاد څخه یو نیم یا دوه زره کاله مخکې لیکل شوی او بیا په هندوستان کې بشپړ شوی دی او تورات چې له میلاد څخه یو نیم زر کاله مخکې په بني اسرائیلو کې موجود و له اویستا څخه لرغونتوب لري

د اویستا ژبه چې په افغانستان کې پیدا شوی، له میلاد څخه څو پیړۍ مخکې همدلته له منځه تللې او پرته له خپله اویستا څخه ددغې ژبې بله نښه په نړۍ کې نه ده پاتې د زرتښت یا زردشت سرودونه په شفاهي بڼه خوله په خوله وساتل شو، دا ځکه چې د افغانستان اویستایي ادبیات د منظوم شعر لرونکی هم وو. لنډه دا چې دا یو شفاهي ادب و، اویستا له میلاد څخه شپږ پیړۍ مخکې، په یوه بله اریایي ژبه ولیکل شو او تدوین شو، خو وروسته بیا د پردیو د یرغلونو له امله او د یو شمیر ناوړه پېښو له لاسه هغه هم له منځه ولاړ. څو پیړۍ نورې تېرې شوې چې د پارت د دولت پر مهال (میلادي لومړۍ پیړۍ) کې، یعنی کله چې انجیل لیکل کېد، یو ځل بیا اویستا را ټول و تدوین شو په درېیمه میلادي پیړۍ کې د ایران ساساني دولت یو ځل بیا په دې کار لاس پورې کړ او اویستا یې د ساساني پهلوي الفبا په توړو را ټول او تدوین کړ. ساساني اویستا ۳۴۸ څپرکي لري چې په ۲۱ کتابونو کې دی او هر کتاب ۳۴۵۷۰۰ کلمې بښودل شوی، حال دا چې له میلاد څخه د شپږو پیړیو مخکې اویستا ۸۱۵ څپرکي لرل چې په ۲۱ کتابونو کې و. خو نن ورځ د درېمې میلادي پیړۍ د ابوستا له مجموعې څخه ۸۳۰۰۰ کلمې په نننۍ اویستا کې شته

البته اویستا د څو زرو کلونو د پېښو په ترڅ کې نشو کولای چې د خپل لومړني تدوین په ترتیب سره په خپله اصلي، بشپړه او خالصه بڼه پاتې شي. هغه تفسیر (زند) چې په پهلوي ژبه پر اویستا لیکل شوی او په دغه تفسیر بل تفسیر لیکل شوی چې (پازند) نومیږي. نن ورځ د ابوستا ډېر لږ برخه ګاتونه پاتې دي چې زیاتره یې مذهبي سرودونه دي د اویستا یوه خطي نسخه چې په (دین دبیره) رسم الخط لیکل شوی د دنمارك په کوپنهاګ کې شته چې په څوارلسمه میلادي پیړۍ کې یې لیکل تر سره شوي دي دین دبیره رسم الخط په شپږمه میلادي پیړۍ کې د ساساني دورې د اویستا د لیکلو لپاره را منځته شوی و. دا ځکه چې معمولي الفبې، اعراب نه لرل نو د مذهبي کلمو قرائت په سمه بڼه ستونزمن کار و. نو په هغه کې یو څه لاسوهنې وشوې. علت توري یې په صحیح تورو کې ور ګډ کړل او په دې توګه (دین

Scanned by CamScanner

دبیره) توم ورکړل شو اویستا له ګاتونو څخه ښکاري چې زر دښتي دیانت پر توحید او یوذات نمانځنې ولاړ و. د جنت، دوزخ، برزخ، صراط، میزان او حساب خبرې پکې وې. همدارنګه د غویانو د وژنې او قرباني کولو، دروغ ویلو، غلا، بیابانونو کې ګرځیدو، شر او چپاول په ضد یې شعار ورکاو. دغه دین ښاري ژوند، کرنه، څاروي روزنه او رښتیا ویل هڅول. د اویستا تر ټولو اوچت او امر په لاندې کلمو کې نغښتي دي: نیک پندار، نیک ګفتار (غوره وینا)، نیک کردار (غوره کړه وړه).

په لنډه توګه ویل کیدای شي چې زردشتي یا زرشښتي دیانت یوازې معنوي دین نه، بلکې یو اقتصادي دیانت هم و. چې دغې ځانګړتیا دغه دین ته ټولنیز ارزښت ور باښه او په عین حال کې د هغو وګړو د عقلي لوړتیا ښودنه کوي، چې دغه دین په هغو کې رامنځته شوی دی. اویستا د افغانستان د تاریخ له پلوه ډیر ارزښت لري. دا ځکه چې اویستا له ریګویدا سرودونو څخه وروسته (چې په هندوستان او ایران باندې د آریائیانو له ویشل کیدو مخکې د دغه قوم د څارویو روزنې او نیمه کرنیز نظام ډیره ښه هینداره ده) یو مهم تاریخي ماخذ دی. د افغانستان د لرغوني تاریخ په برخه کې اویستا له جغرافیایي پلوه افغانستان د هندوکش له غرونو او شاوخوا ولایتونو سره یو ځای شپاړس ټوټې ځمکې بولي. لکه بلخ (بخدي)، بدخشان (راغا)، مرو (مورو)، هرات (هریو)، د هلمند حوزه (هراویتي)، ارغنداب (هیتومنت) د سند حوزه (هپته هندو) او سغدیان (ماوراء نهر) او نور. اویستا د دغې سیمې خلك او وګړي (آریا) بللي او د هغوی هېواد ته آریا وایي. اویستا ډېر لرې وختونه را ښیي چې هغه مهال لا د افغانستان خلکو سکه او پیسې نه درلودې. معاملې او راکړې ورکړې ټولې جنس په جنس و. لکه آس، غوا، اوښ، پسه او نور. همدارنګه هغه وخت ټولنې مالګه نه پیژندله او لیك او لیکل نه و. خو ښارونه، کلي، کرنه، اوبه لګول، څاروي روزنه، ښوالي او پیشه وري وه. فلزي وسایل کاریدل. اوبدل و. وسلې جوړیدې. ګډا، موسیقي او ورزش هم وو، طبیبان هم وو. ټولنیز جوړښت کې درې طبقې وې روحاني، نظامي او بزګر (دهقان).

روحانیونو سیاسي واك درلود، بزګرانو او پیشه ورانو کاو کار او کړول کیدل به (دلته د اویستا یو سرود وګورئ). اویستا جم (جمشید)، ویشتاسب (ګشتاسپ) او کاوي او نور یادوي. دا هماغه نومونه دي چې وروسته بیا په یو شمیر اسطورو او د تاریخ لیکونکو روایاتو او شهنامو هغه د کیاني، پیشد ادیانو او اسپه په نومونو یاد کړې دي چې د افغانستان د لرغوني بلخ او باختر پاچایان وو. له دې ټولو سره سره اویستا یې ټولنه د یوه ساده کرنیز تمدن لرونکې وه. له دې امله چې په اویستا کې د فلز یادونه شوې. حال دا چې دوی لا وسپنه نه پیژندله. نو ویل کیدای شي د افغانستان د هغه وخت ټولنه د نوې تیرې او فلزاتو په پړاو کې وه، او دا هماغه د برونز (برنج) دوره وه دغه ساده تمدن او لومړنی هڅووب یو څه خپلواك هڅووب و چې د افغانستان له ټولنې څخه یې سرچینه اخیستې وه او تردې وخت پورې یې له بل کوم تمدن او هڅووب څخه هیڅ ډول نه و اغیزمن شوی. سره له دې چې دغه هڅووب د نړیوال پراخ هڅووب په برخه کې کوم خدمت و نه کړ، خو بیا هم د سیاسي موسسې (دولت) په جوړولو، د کرنې په پراخه ترویج، او له میتالوجي پړاو څخه د وحدانیت لمانځنې پړاو ته د اوښتو په برخه کې په ټوله منځنۍ آسیا کې مخکښ و. دا د زرتښت د سرودونو یوه بېلګه ده. له (آهنوګات- یسنا ٣١ مه قطعه ١٢) څخه

((ای اهورا له تا څه پوښتنه کوم. د هغه چا سزا څه ده چې د دروغو او بدو کړو وړو د واکمن کولو لپاره هڅې کوي. هغه د بدو کړو وړو خښتن چې د کارګرانو او د بزګرانو او آسونو له څورولو پرته یې بل څه له

لاسه نه دي پوره سره له دې چې بزګرانو ده ته هیڅ زیان نه دی رسولی

تاسې باید یو هم د دروغ ویونکو خبرو او حکم ته غوږ ونه نیسئ ځکه چې هغه کلی کور او ښار او کورنی ټول له فساد او احتیاج سره مخامخ کړي. نو په وسلې سره هغه له ځان څخه وشړئ» له (سپنتمدګات- یسنا ۸۴۸ قطعې) څخه

«غوسه باید پیل شي. د ستم په وړاندې له ځان څخه دفاع وکړئ. ای هغو کسانو چې د پاکو خلکو پاداش او ستاینه د خپل ریښتینوالی له امله غواړئ. هماغه ریښتیا چې سپیڅلی یې دوستان دي. د هغه مرستون به له تا سره وی ای اهورا.» (١)

---

١ د پور داور تالیف ګاتهاي زرتشت – د بمبئي د ۱۹۲۷ کال چاپ.

Scanned by CamScanner

# دریم څپرکی

## د بهرنیو دولتونو لاسوهنې او د افغانستان د خلکو مبارزه
(له میلاد څخه له شپږ پېړۍ مخکې تر درې پېړۍ مخکې پورې)

## لومړی
## افغانستان او هخامنشي دولت
(له میلاد څخه مخکې ۵۴۵ څخه تر ۳۳۳)

له میلاد څخه د زرو کالو مخکې مو دې په لومړۍ نیمایي کې د افغانستان کرنه، صنعت، لاسي کارونه او پیشه وري د پرمختګ په لاره روان وو باختریان څخه د هند، ایران او منځنۍ آسیا لارې تیریدې، له اقتصادي پلوه یې په منځنۍ آسیا کې مهم ارزښت درلود د خپلې آبادي او شتمني له پلوه یې د پردیو پام خانته را اړولی و. په شمال کې د مرکزي آسیا دښتې د سیحون او جیحون د دو سیندونو ترمنځ د هغو آس څغلوونکو د اوسیدو ځای و چې په کیږدیو کې اوسیدل او تل یې د باختر د آبادي خواته سترګې وې او کله کله به یې د هغوی له پولو تیری کاو او ور ننوتل به. همدا یواځنې ګواښ و چې باختریان یې ویرولي وو. په ایران کې هم ماد قبایل (په لویدیځ او شمال لویدیځ کې) او پارسیان (د ایران جنوب) کې اوسیدل چې تردې وخت پورې لا د دولت او سیاسي ځواك لرونکی نه وو چې دوی له میلاد څخه مخکې تر اوومې پېړۍ پورې د آشوریانو د پراختیا غوښتونکي دولت تر یرغلونو لاندې وو همدارنګه د هندوستان خلك د خپل پراخ هېواد د ننه ډېر بوخت وو. سره له دې چې دغه هېواد کې یو شمیر سیمه ییز دولتونه لکه د کوروس او پنچالا دولتونه (د جمنا ګنګا په حوزه کې) او بیا ورپسې د (کوسالا) دولت د کاشي او دو په ولایت کې (د بنارس شاو خوا) او د (ودها) دولت د بهار په ولایت کې جوړ شول او دوی د (برمانا)، (مهابهاراتا) او (رامایانا) په نومونو کتابونو کې ددې ذکر هم را وړی، خو بیا هم دغه دولتونه تر میلاد د مخه د اوومې پېړۍ په ترڅ کې یو بل سره اخته شول، وروسته یې چې کوم دولتونه لکه (وامسا) او (کوسامبلی) جوړ کړل. ټول د هندوستان په پراخه سیمه کې سیمه ییز کوچني دولتونه وو او د ټول هندوستان د یوه سراسري دولت په مرکزیت ورکولو کې پاتې راغلل، تر څو چې په پای کې د (مکدهه) سلطنت رامنځته او د هغو ټولو ځای یې ونیو. له هغه څخه هم افغانستان ته کوم ګواښ نه و. دغه دولت له میلاد څخه مخکې تر څلورمې پېړۍ پورې دوام و موند خو افغانستان ته

بې کوم خطر پېښ نه کړ.

حالات په یوه شان نه پاتې کېږي. لومړی د مرکزي آسیا په کېږدیو کې د اوسېدونکو آس څغلوونکو یرغلونو، د افغانستان باختري دولت سست کړ. ورو ورو له ساسي پلوه هېواد کمزوری شو. تر څو چې مرکزیت له منځه ولاړ او د هېواد بېلا بېلو برخو کې جلا جلا شهزاده ګان په واک کې شول له بلې خوا له میلاد څخه اوه پېړۍ مخکې په ایران کې لومړی د مادانو دولت او بیا ورپسې د پارس هخامنشي دولت جوړ شو. دا په لرغونو وختونو کې لکه د آشور د دولت په شان یو نړۍ نیوونکی دولت و ګرځېد. له میلاد څخه مخکې په شپږمه پېړۍ کې د هخامنشیانو اوم پاچا (کورش) د ماد دولت له منځه یووړ او په کوچنۍ آسیا کې یې لیدی دولت چې له دوو پېړیو راهیسې ښه ځواکمن شوی و، هم رنګ کړ. وروسته یې د کوچنۍ آسیا یوناني ښارونه لکه د لیدی دولت د سیمو په شان یو په بل پسې ایران پورې وتړل کوروش د نوي کلدي دولت هم رنګ او د بین النهرین سیمې یې د ایران برخه وګرځوله. په همدې وخت کې کوروش بندیان کړل شوي یهودان خلاص کړل.

دا مهال په دومره ځواک سره کوروش د باختر د شتمنې خاورې نیولو ته پام واړاو او له میلاد څخه له ۵۴۵ څخه تر ۵۳۹ مخکې کلونو کې یې هغه افغانستان سره جګړه پیل کړه چې کوم مرکزي دولت یې نه درلود. د افغانستان خلکو شېږ کاله د کوروش له لښکر سره جګړه وکړه. خو کوروش د کرمان، پارتیا، باختر، ساګیدیا (هزاره جات) سیستان، بلوچستان او کندهار ونیول او په کاپیسا کې یې هم ډېر کلک جنګونه وکړل. په خپله له میلاد څخه ۵۳۹ کاله مخکې په همدغو جګړو کې ووژل شو. د کوروش زوی کامبوزیا دومره ځواکمن و، چې له میلاد څخه ۵۲۵ کاله مخکې کې یې د فرعونانو د لړۍ له ۲۲ فرعون یعنې وروستي فرعون څخه ټول مصر ونیو. لومړی داریوش د لومړي ځل لپاره په ایران کې سکه کونده کړه. وروستنه تر هغه چې له میلاد څخه ۵۱۲ کاله وړاندې یې د اسکیتانو او تراسانو هېواد او مقدونیه ونیول. نو افغانستان ته یې مخه کړه او آن تر سند پورې وړاندې راغی. په همدې لړ کې د هخامنشي نورو پاچایانو زیاته پاملرنه لویدیځ خواته شوه او له ختیځ لورې یې مخ واړاو. همدغې خبرې یعنی له ختیځ لوري د هغوی د مخ اړولو فرصت دا امکان برابر کړ چې د افغانستان د شمال او لویدیځ ولایتونه ورو ورو بېرته ځواک و مومي او په خپله د خپلواکې پاچاهي په فکر کې شي. کله چې له میلاد څخه څلور پېړۍ مخکې یونان پر ایران لښکر راوست، دریم داریوش (۳۳۸- ۳۳۲) کاله له میلاد څخه مخکې) د ځان ساتنه و نشوه کولای نو مخ په افغانستان راغی، خو دا وخت د افغانستان خلکو د هغه په وړاندې پاڅون وکړ او مخې ته یې و دریدل. او په دې توګه د باختریانو والی (بسوس) خپلواکي اعلان کړه او خپل ځان یې پاچا کړ. داریوش د همدې په لاس ووژل شو، په دې توګه مقدوني سکندر د پخوانۍ نړۍ یو نامتو نړۍ نیوونکی، ایران ونیو او بیا ورپسې د افغانستان په لوري راسم شو مقدوني سکندر د بسوس لښکرې ماتې کړې او په خپله بسوس یې وواژه. په دې توګه د هخامنشیانو ځواکمن دولت له پښو ولوید او افغانستان ته د تاریخ نوې پاڼه پرانیستل شوه.

له میلاد څخه مخکې شپږمه او څلورمه پېړۍ کې. سره له دې چې افغانستان د سیاست له مخې

کمزوري و «دا څکه چې نور نو له میلاد څخه مخکې د اوومې او اتمې پېړۍ په شان څواکمن نه و، سیاسي مرکزیت یې ورك و او سیمه ییز واکمن د خپلو شخصي ګټو په خاطر د هخامنشي شاهانو تابع شوي وو» چې دغه حالت د هېواد سیاسي وضع پورې تړلی و. خو ټولنیز تدریجي پرمختګ دوام درلود افغانستان چې له میلاد څخه اته پېړۍ وړاندې یې زرتښتي دیانت ایران ته وړی و، اوس یې له میلاد څخه مخکې په شپږمه پېړۍ کې (خروشتي) رسم الخط چې (آرامي) الفبې یې وه، له ایران څخه و مانه، چې دا هم په لرغوني هڅووب کې یو نوی پرمختګ و

آرامي الفبې لا مخکې ایران او هندوستان ته رسیدلې وه او په ایران کې لا یو څه سمون هم پکې راغلی و، خو یو څه نیمګړتیا یې هم لرله خروشتي لیك له ښي. خوا څخه کیڼې خواته لیکل کید، کله چې افغانستان ته را ورسید، تر پینځمې میلادي پېړۍ پورې یې دوام وکړ دغه لیك په دفترونو، دیوانونو، د ډبرو لیکونو پرمخ، د فلزاتو او سکو پر مخ، د کودوړو پر لوښو او په پوستکي باندې لیکل کید. دغه لیك په افغانستان کې په یوه معمول پراکریت په قلم او رنګ سره لیکل کید، په فلزي قلم سره منقور کیده هم په افغانستان کې د دغه لیك نښې لا اوس هم شته. د «څوات وردك» او «د درونټې د بیمارانو» او «د جلال آباد د هډې» تر لاسه شوي ډبرلیکونه او کتیبې یې ښې بیلګې دي دغه ډبر لیکونه او کتیبې لومړۍ او دوهمې میلادي پېړۍ او د ستر کوشاني دولت زماني پورې اړه لري دغه ډبرلیکونه، په تیره بیا د څوات وردك کتیبه ددې شاهدي ورکوي چې د افغانستان د هغه مهال په ټولنه کې، یو شمیر دیندار خلك وو چې عبادتځایونه او جوماتونه یې جوړول او خیریه اوقاف او خیراتونه یې ورکول باید وویل شي چې تر اوسه پورې په افغانستان کې د میخي خط «نه د مادي دورې او نه هم د هخامنشي دورې» نښې نه دي لیدل شوي. خو یو شمیر نورې لیکنې شته چې د هغو د یو شمیر ژبه څرګنده نه ده او د نورو د لیك هویت یې پیژندل شوی نه دی له دې پرته، دغه لیکونه له اسلام څخه مخکې افغانستان کې، د هندوکش په جنوبي ولایتونو کې په ګندهاري پراکریت ژبه، د سانسکریت او برهمي «شارا دا» په لیکدودونو وو آن دا چې کله چې مسیحي نسطوري دلته راغلل، سریاني لیك هم «که څه هم ډیر کوچنی ساحه کې دود و»، د افغانستان شمال لویدیځ ته را ورسید دغو ټولو پیښو د افغانستان د کلتور او تمدن په پرمختګ کې رول درلود د افغانستان په باختر کې له میلاد څخه پنځه پېړۍ مخکې یو ډول خانګړې سکه رواج وه چې دا د سوداګرۍ د پرمختګ نښه ده.

سره له دې چې هخامنشي دولت نړیوال علم ته کوم خدمت و نه کړ، خو په هنر او معمارۍ کې ښه و، د هېواد د دارۍ په چارو کې یې اوچت لاس درلود او دغه دولت افغانستان ته آرامي لیك راوړ په همدې سره د افغانستان د تاریخ ثبت شوې دوره پیل کېږي همدارنګه اخامنشیانو پر مهال د دفتر چلولو فن هم دلته راغی او د هغوی د معمارۍ، حجارۍ او اوبو لګولو چارو د افغانستان د ودانۍ جوړولو، تیږې توږلو او اوبه لګولو په چارو کې اغیزه وکړه، همدارنګه په دغه دوره کې آرامي خط هندوستان ته ورسید، چې وروسته د خروشتي او برهمي لیکدودونو لپاره بنسټ وګرځید. هخامنشي دولت په افغانستان کې سیاسي تشکیلات او ملکي ویش هم را منځته کړ او د خپل قلمرو په هر ولایت کې یې یو

تن (ساتراپي) يعنی والی درلود. چې دغه والي (ساتراپي) له يو تن نظامي سردار او يو تن منشي (دبير) سره د ولايت چارې سمبالولې. ساتراپانو به د سپينو زرو سکې کوټه کولې او د دوه ګرخنده څارونکو له خوا به د پاچا ساتنه کیده. په افغانستان کې د هخامنشيانو سياسي تشکيلات او ملکي ويش کټ مټ هغه اغيزه درلوده. لکه کومه اغيزه چې د روميانو واکمنې په ګول (فرانسه) کې درلوده.

له دې سره سره د افغانستان او ايراني، دواړو هېوادونو کلتور او تمدن په دغه دوره کې مخ په پرمختیاو، هغه سکې چې په ۱۹۳۲ کال د کابل د حضوري چمن له سيمې پيدا شوي دي. په افغانستان کې د هخامنشي دورې پورې اړه لري. همدارنګه د سرخ کوتل له مونډل شوی معبد څخه تر لاسه شوي آثار د باختريانو له منځه تللی هنر جوتوي چې دغه هنر په باختر کې د هخامنشيانو، هلنستيکانو او کوشانيانو هنرونه ټول سره ګډ کړي دي.

# دوهم

# افغانستان او د یونان دولت

## (له میلاد څخه ۳۳۰ – ۲۵۰ کلونه مخکې)

یونان یو کوچنی هېواد و، چې یو نیم میلیون تنه او سېدونکي یې لرل چې له میلاد څخه زر یو نیم زر کاله مخکې شپانه سیمه بیز خلك هلته مېشت شول دغو خلکو د (اژه) سیند شاو خوا، د پلو پونز ټاپو وزمې، یونان، د اژه ټاپوګان او د کوچنۍ آسیا غاړې ونیولې او تردې وخته پورې یې له تاریخ څخه مخکې دوره او د تېرې په نوي عصر کې ژوند کاو دوی لیك او لیکدود نه درلود او له خپل پخواني ژوند څخه د یو شمیر نکلونو له لارې خبر شوي وو یوه له دغو نامتو کیسو او افسانو څخه د (تروا) د جګړې نکل دی، د دوی مذهب د ارباب انواع نمانځنه او له اخلاقو تش لمانځل و، خو ورو ورو وروسته بیا د یونان ټولنې بشپړتیا ومونده. له دې پرته دوی د اژه د ټاپو له اسېدونکو څخه، چې پېړۍ پېړۍ د مخه د صنعت، تمدن، لیك او لیکدود لرونکي وو، دغه آثار، ادب او هنر زده کړل او د ختیځ د لرغونو ملتونو د هځووب پر بنسټ یې د یو خلاند تمدن او هځووب بنسټ کېښود (د ختیځ لرغوني ملتونه لکه مصر، کلدانیان او فنیقیان وو) دغه تمدن د هغه وخت د بشریت د فکري او ذوقي پرمختګ استازیتوب کاو سره له دې چې د بشري تمدن په پرمختګ کې د یونان ونډه تر زیاته حده د ادب، فلسفې او ښکلو صنعتونو له لارې وه، خو بیا هم دوی د پوهنې د زړې کرونکي بلل کېږي. له میلاد څخه اوه پېړۍ مخکې تالس د ټولو شیانو په اساسي وحدت باندې پوه شو او اوبه یې (مادة المواد) و بللې له میلاد څخه شپږ پېړۍ مخکې سولون خپل نامتو قانون آتن ته ولیکه. له میلاد څخه پنځه پېړۍ مخکې د مکریت د اتم نظریه وړاندې کړه. هغه په نړۍ کې ټول شیان او اجسام له اتوم او خلا څخه جوړ و بلل. هغه د (جبر) پلوی و. سقراط د اخلاقو په تدریس پیل وکړ. له میلاد څخه څلور پېړۍ مخکې اپلاتون هغه نامتو فیلسوف و چې کله یې د (مثل) له نړۍ څخه خبرې کړې او بیا یې یو وخت د (جمهوریت) په شان کتاب هم تالیف کړ. ارسطو نامتو فیلسوف او په خپل وخت کې د یونان د فلسفې د بشپړتیا وروستۍ بیلګه ده. د هغه د فلسفې مکتب (لیسه) په آتن کې د هغه مهال د فلسفي او کلتوري آثارو مرکز او د لرغونې نړۍ یو ستر دایرة المعارف و. له بلې خوا همدې فیلسوف ویل چې مریي (غلام) خبرې کوونکې وسیله ده. دده دغه خبره د هغه وخت د یونان له ټولیز ژوند څخه را زېږېدلې خبره وه، چې د مرئییانو په هکله د حاکمې طبقې نظر ښکاره کوي. له هغه وخت څخه وروسته تر هغه مهال پورې چې نور نو یونان اقتصادي، سیاسي او کلتوري ماتې سره مخامخ شو او فلسفې او علمي څېړنې ټولې اسکندر یې ته ولېږدېدلې، بېلا بېل فلسفي مکتبونه په یونان کې را منځته شوي وو لکه

Scanned by CamScanner

د مادي فلسفي فيلسوف اپيګور، د سنيکانو (کلبيانو) مکتب. شکاکيون او نور. خو د سياست له پلوه يونان د څه نا څه شلو بيلا بيلو دولتونو لرونکی هېواد و چې هر جلا هېواد خپله پلازمينه درلوده. په دغو ټولو کې مهم يې د اتيک ټاپو وزمه (چې آتن يې پلازمېنه وه)، لاکوني (پلازمينه يې اسپارت و) او بويتي (پلازمينه يې تب و) وو. د ټولنيز جوړښت له مخې د يونان ملت درې طبقې درلودې آزاد، بنده او بيګانه (پردي). آزادې طبقې د حکومت چارې په لاس کې درلودې. ښوونه او روزنه هم د دوی لپاره وه. د نجونو زده کړو ته ډېره پاملرنه نه وه. آزادو نارينه وو چې هوسا ژوند يې درلود. د تفکر او په ټولنيزو او فلسفي چارو کې يې د غور کولو او څېړنې فرصت درلود. دا ځکه چې د ټولنې اعاشه، کار او زيار د مريانو په غاړه و. د بېلګې په توګه له ميلاد څخه پنځه پېړۍ مخکې د اتيک په ټاپو کې د ازادو يونانيانو شمير د څلوېښت زرو په شاو خوا کې وو. خو په همدغه ځای کې ۱۵۰ زره مرئييانو کار کاو او بيګانه هم ور سره وو. په دغه ډول ټولنيز جوړښت سره د روزنې لرونکی اسقراط او سوفستان ډېر شول چې د عوام غولوونکو دليلونو او وينا وو په اساس يې د خپلو ځانې ګټو لپاره ټولنه خپلې اغيزې لاندې راوستې وه چې همدې خبرې د يونان زوال برابر کړ. دا ځکه چې دولت فاسد شوی و. له دې پرته په خيله په يونان کې يو بل لامل دا و چې د پينځمې ميلادي پېړۍ په وروستۍ نيمايي کې د يونان په ښارونو کې خلك په دوو ډلو يعنې بډايو او بېوزلو ډلو ووېشل شول. چې دوی يو د بل په ضد مبارزه کوله. بېوزلان د آتن سره يو موټي او ملي حکومت ملاتړي وو. خو شتمن بيا ټول د يوه ممتاز او اسپارت سره تړلی حکومت پلويان وو. دغې لانجې او شخړې دومره وخت ونيو چې په پای کې روميان ختيزې مديترانې ته ننوتل. بډايو د خپلو بېوزلو وطنوالو د له منځه وړلو په خاطر له بهرني دښمن (روميانو) سره لاس يو کړ. په پای کې له ميلاد څخه ۱۴۲ کاله مخکې د يونان خپلواکي د روم تر واك لاندې درې وړې شوه. خو د يونانيانو کلتور او تمدن لا هم د نړۍ په ختيځ او لوېديځ کې پاتې شو. آن دا چې په خپله روميانو بيا دغه تمدن او کلتور مديترانه يې هېوادونو ته خپور کړ.

## د مقدوني سکندر پر مهال

د پينځمې ميلادي پېړۍ څخه مخکې يونان د ايران او اسپارتيانو تر ير غل لاندې و او له ميلاد څخه څلور پېړۍ مخکې د مقدونيې د پاچا (فليپ) له خوا ونيول شو (له ميلاد څخه په ۳۳۸ کاله مخکې) يو کال وروسته فليپ ووژل شو او د هغه زوی سکندر يې پر ځای کيناست. دا يو جګړه مار او تند خويه ځوان و، چې هم د ارسطو شاګرد و او هم يې د اتلولۍ فکرونه په مغزو کې وو. له ميلاد څخه مخکې په ۳۳۴ کال له ديرش زره پلي او څلور زره سپاره لښکر او د څلوېښتو ورځو خوراکي سره د هخامنشيانو د دولت د جګړې په خاطر روان شو. په لاره کې يې درې جګړې وکړې. کوچنۍ آسيا کې. د اسکندورن د خليج تر غاړې او په ترکيه او اوسنی کردستان کې هغه د ايران لښکرو ته ماتې ورکړه. او ايران يې ونيو. سکندر چې يو نامتو نړۍ نيوونکی و. په څلورو کلونو کې يې په خپل خواکمن لښکر سره د کوچنۍ آسيا نور لوی هېوادونه لکه مصر او ايران و نيول. دا وخت هغه د هندوستان د نيولو په فکر کې

شو، چې په دې کې لومړی افغانستان دده په لاره کې پروت و. سکندر خپل ځان د پلار له لوري (هر کویس- یعنی د قدرت رب النوع) ته منسوب باله او د مور له خوا یې ځان د یونان د افسانوي اتل (آشیل له پښت څخه ګانه او د مصر په هېواد کې یې د (پرامون- د فراعنې لقب دی) غوره کړ. له میلاد څخه مخکې په ۳۳۰ کې له ایران څخه افغانستان ته چې د مرکزي دولت لرونکی نه و، را واوښت. خو په افغانستان کې له اتکل پرته یو کلك پاڅون سره مخامخ شو. دی دلته څلور کاله د خلکو له خوا په جګړه بوخت پاتې شو او د افغانستان او سغدیانا په نیولو کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ شو تر څو یې د کولای شول د توس له لارې هرات، بیا کندهار او کابل ته او په پای کې د بلخ بازار او له جیحون څخه واوړي. له یونان څخه یې نولس زره نوی لښکر را وغوښت او له سل زرو عسکرو سره یو ځای بیرته په هندوکش را تېر شو او د افغانستان له ختیځ ولایتونو څخه له میلاد څخه ۳۲۷ کاله مخکې مخ په هندوستان ورغی، سره له دې چې دی له بطلیموس سره د افغانستان په ختیځ کې تېر شو او دده لښکر په دفاعي جګړه کې په طوس، هرات، غزني، بلخ او ماوراالنهر کې د افغانستان له خلکو سره په خوځو جنګونو کې ډېر ستومانه شوی و، خو بیا هم و توانید چې د سند له دریاب څخه پورې وځي او د جیلم (پوروس) څنګ ته د پنجاب پاچا له ماتې سره مخامخ کړي. له هغه نه وروسته د (بیاس) تر سیند پورې پر مخ ولاړ. خو نور نو دده اردو د ستومانه کوونکی سفر توان او زغم له لاسه ورکړ. د ایران او بلوچستان له لارې بیرته بابل ته ور وګرځید او همالته په ۳۲ کلنۍ کې ومړ.

د سکندر په لاس نیول شوې پراخه سیمې چې د سند له دریاب څخه د پخوانیو تمدن لرونکو هېوادونو نه نیولې تر ادریاتیك سمندر، مصر، او ققفاز پورې وې، د یونان د قدرت غوښتونکو سردارانو لاس ته ولوېدې. دوی د مقدونیه سلطنتي کورنۍ د غړو د ملاتړ په نوم یو بل سره و نښتل چې په پای کې یواځې درې تنه پاتې شول. په دې توګه هغه ډېره لویه شهنشاهي د دوی ترمنځ وویشل شوه. مقدونیه او یونان د آنتی کونوس لاس ته ورغله، مصر د بطلیموس برخه شو او شام او ایران د سیلو کوس په برخه شو. افغانستان چې د سکندر له مړینې وروسته د یوناني څلورو والیانو په لاس کې و (په باختر او سغدیانه ولاتت کې، کابلستان او د هغه شاو خوا ولایت کې، د هرات او سیستان ولایت کې او د کندهار او بلوچستان ولایت کې)، یو څه موده وروسته په خپله سیلو کوس د ایران له لارې څخه افغانستان ته راغی او له میلاد څخه مخکې په ۳۰۵ کال کې له سند څخه هند ته پورې وت. دا مهال په هندوستان کې یو لوی بدلون راغلی و. په هند کې د چندرا ګپتا موریا تر لارښوونې لاندې یو خواکمن دولت جوړ شوی و. همده د سکندر له مړینې وروسته، مکدهه پاچاهي ونړوله او ټولې یوناني نیول شوې سیمې یې ونیولې او لومړنی پاچا و چې د هند تر ټولو لوی تاریخي سلطنت یې جوړ کړی و.

وروسته بیا د افغانستان ختیزو ولایتونو ته خیر شو. همده سیلو کوس دې ته اړ ایست چې له سند دریاب څخه بیرته را پورې وځي او د هندوکش په جنوب کې یې له یوناني حاکم څخه ټول پنځه سوه پیلان واخیستله. همدا مهال افغانستان ته د بودایي دین لارویان او مبلغین را ننوتل چې یو وخت یې بیا نیم هېواد ونیو. د سیلو کوس اولادونو او ځای ناستو په افغانستان کې هیڅ کوم مهم کار و نه کړ.

Scanned by CamScanner

دوی یو اخې د افغانستان د یوناني والیانو په اطاعت بسنه وکړه او بس. په پای کې یو وخت د همدغو یوناني والیانو له ډلې څخه یوه یې د شام او مصر له ښخړو ګټه پورته کړه او له میلاد څخه ۲۵۰ کاله مخکې یې د افغانستان خپلواکي اعلان کړه.

Scanned by CamScanner

# څلورم څپرکی

## د بهرنۍ واکمنۍ پای ته رسول او د افغانستان د خپلواکو دولتونو جوړول
## (له میلاد څخه درې پېړۍ څخه مخکې تر شپږمې میلادي پېړۍ پورې)

## لومړی
### افغانستان د یونانو باختري دولت پر مهال (له میلاد څخه مخکې ۲۵۰ څخه تر ۱۳۵ پورې)

لومړی، د یو دوت د شامي دوهم انتیو کوس له خوا د باختر او سغدیانه د والي په توګه مقرر شوی و، خو هغه د یونانو باختري دولت خپلواکي اعلان کړه. دوهم د یو دوت د هغه ځای ناستي (له میلاد څخه ۲۴۵- ۲۳۰ کاله وړاندې)، د ایران له پارتي یا اشکاني نوي دولت سره، چې د اوسني خراسان په ولایت کې د افغانستان شمال لویدیځ کې جوړ شوی و، او له میلاد څخه ۲۴۹ کاله مخکې کې یې خپلواکي اعلان کړې وه. دوستانه اړیکې ټینګې کړې. دا څکه چې دواړه دولتونه د شام د سیلوسي واکمنۍ پر ضد وو. ایوتیدم د یونانو باختري پاچایانو په لړ کې تر ټولو ځواکمن پاچا و چې له میلاد څخه ۲۲۷ کاله مخکې یې افغانستان ته د شامي درېیم انتیو کوش یرغل پر شاوتمباو او د هندوکش د جنوب ولایتونه یې پرته له جګړې څخه د هند له دولت څخه خپلواک کړل. د هېواد په لویدیځ کې ایوتیدم د توس تر ایالت پورې وړاندې تللی و (له میلاد څخه ۲۰۲ کاله مخکې) او داسې اټکل کېږي چې هغه به کاشغرستان هم په هغه مهال کې نیولی و. په دې وخت کې بلوچستان له افغانستان سره وتړل شو. د ښارونو جوړول، د لویو لارو جوړول، او به لګول، پیشه وري او د ځارویو روزنه په همدې دوره کې ښه پر مخ ولاړل. آن دا چې باختر د (هزار شهر) نوم وګاټه. له هند او چین سره سوداګري پراخه شوه. په هغه مهال کې د ولایاتو اداره د ډېرو مقتدرو والیانو په لاس کې وه چې زیاتره یې شهزادګان وو او هر یوه د خپل واك په سیمه کې خپله سکه په خپل خپل نوم ګونډه کړې وه. اوس هم د ایوتیدم د سرو او سپینو زرو سکې شته. د متریوس (له میلاد څخه ۲۰۰- ۱۲۰ کاله مخکې) تر سند او د پنجاب تر سیمو پرمخ ولاړ او تاکسیلا یې هم ونیوله. مناندر جنرال دیمتریوس، شمالي هندوستان د ګنګا تر غاړو پورې ونیو. په دې توګه د هېواد سیاسي پولې د ایران له دښتو څخه د ګنګا تر غاړو او د سیحون او جیحون له حوزې څخه تر سمندر پورې پراخه شوې. د یونانو باختري دولت فتوحاتو له میلاد څخه مخکې تر ۱۷۵

Scanned by CamScanner

کال پورې پای و موند. دې پسې وروسته له میلاد څخه ۱۷۵ کاله مخکې ایو کراتید پاچا شو. دده پر مهال یونانو باختري سردارانو په نیول شوي هندوستان کې یو جلا دولت جوړ کړ. له همدا مهال څخه د یونانو باختري دولت سیاسي نړېدل پیل شول. د واکمني دننه د لویو واکمنو د ډلو ترمنځ شخړې پیدا شوې او له بهر څخه د اشکاني دولت ځواک مخ په زیاتیدو و. تر څو چې د هېواد په لویدیځ ولایت کې یې لاس و موند. خو تر ټولو لویه پېښه د (سیتي) قبیلو مهاجر کېدل و. دغو قبایلو له سیحون څخه پورې غاړې څخه په شمال مشرق کې مخ په سغدیانه راتګ پیل کړ. ددغو مهاجرتونو لومړۍ څپه د (اسکایي) په واسطه ماورالنهر ته ورغله او ورپسې بیا له جیحون څخه په تېرېدلو سره یې د باختر ایالت ونیو. کله چې دغه مهاجرت مخ په لویدیځ ولاړ. نو هلته د اشکاني پارتیا دولت له ځواک سره مخامخ او نور وړاندې تګ څخه پاتې او د سیستان او کندهار سیمې یې په جنوب کې ډکې کړې. له دې څخه وروسته سیستان یا لرغونی دړانګیانا د اسکایي یا (ساکستانا) په نوم یاده شوه. اسکائي وګړي له سیستان او کندهار څخه د سند تر حوزې پورې ورسیدل.

په هر حال: د کوزنیو اسکایي وګړو فشار او د اشکاني دولت یرغلونو له میلاد څخه ۱۳۵ کاله مخکې یونانو باختري پاچا هیلوکلس دې ته اړ ایست چې د هندوکش له شمال او د بلخ له پخوانۍ پلازمینې څخه د هندوکش جنوب ته ولاړ شي او کاپیسایي د دولت مرکز شوه. ددغه دولت لمن په ختیځ کې تر سند پورې خپره وه. انیتال کیداس، امین تاس او هر مایوس او نور چې د هیلوکلس ځای ناستي ول. له میلاد څخه تر یوې پېړۍ مخکې پورې یونانو باختري پاچاهي اوږده کړه. خود همدغې پېړۍ په پای کې د پارتیانو او اسکائیانو د زور له امله بیخي له منځه ولاړل.

پارتیان او اسکائیان له میلاد څخه مخکې دوهمې پېړۍ په پای (۱۲۰ ق م) کې او د میلادي لومړۍ پېړۍ (میلادي ۷۵ کال) کې د سیستان او کندهار په ایالت او د سند په کوزه حوزه کې د خپلواکو حکومتونو لرونکي وو. د هغوی د مسکوکاتو د شتوالي سره سره. د هغوی تاریخ روښانه نه دی. د دوی سکې په دوو ژبو او په یوناني. پراکریت او خروشتي لیکدودونو وې.

## د یونانو باختري دولت پر مهال د افغانستان ټولنیز وضعیت

افغانستان ته د سکندر او یونانیانو راتګ چې هغوی سره یو شمیر پوهان او هنرمندان هم یو ځای وو. د افغانستان په مادیاتو او معنویاتو ژوره اغیزه وکړه. دغې سترې پېښې د هېواد ډیر لرغوني کلتوري، ټولنیز نظام او تمدن ته لوی ټکان ورکړ او د دوو تمدنونو د یو ځای کیدو له امله، د هېواد کلتور او هځووب یوه نوي پړاو ته اوچت شو. کله چې یونانیان افغانستان ته راغلل، دوی مجرد سپاهیان وو چې ودونه او اولادونه یې نه لرل. نو کله چې دلته پاتې شول، په دې هېواد کې یې ودونه وکړل او ورسره ګډ شول. دغه ګډېدلو هغوی د افغانستان د عقایدو او مذهب او کلتور تر اغیزې لاندې راوستل او له یونانیانو سره یې ډیر توپیر و موند او خپلواک ژوند یې غوره کړ. دا یواځې نه وه، یوه بله پېښه هم وشوه چې زمونږ د هېواد په تاریخ او کلتور کې یې ژوره اغیزه پاتې شوه. هغه دا چې له میلاد څخه مخکې

دریمې پیړۍ له نیمایي را وروسته چې په افغانستان کې د یونانو باختري دولت خپلواکي اعلان شوه، له ختیځ لوري څخه د هندوستان د موریا لوی دولت له سند څخه را پورې وت او د هندوکش تر جنوب پورې ورسیدل ددغه دولت مذهبي مبلغانو. بودايي روحي داډ ښونکی مذهب چې د مادیاتو د غوښتنې بر خلاف و او د ریاضت او عبادت په واسطه یې د بشر د اخلاقو سمون غوښت، دلته راغی او له میلاد څخه مخکې تر دوهمې پیړۍ پورې ددغه دین روحاني او اخلاقي واك او اغیز تر باختریان پورې خپور شو. د افغانستان یونانو باختري دولت چې بډاي هندوستان ته یې د تمې سترګې نیولې وې. ددغه نوی مذهب د خپریدو مخنیوی و نه کړ. نو ځکه بودايي دین د هغه له میتالوجي سره. د هېواد نیمه ختیزه برخه ونیوله. تر دې پورې چې پخواني دیانت یعني زردشت ټینګ پاتې نه شو او وار په وار د هېواد لویدیځ ته په شا ولاړ نو ځکه په هغه مهال ځو بیلا بېل عقاید او ادیان د درناوي وړ وو، لکه د یونان ارباب النوع. زرتښت دین. بودا. اناهتیا او اپولون ددې ټولو مزدکونه یو د بل خوا په خوا وو. له دې امله چې په میلادي لومړیو پیړیو کې د یونانو بودايي صنعت مدرسه او د بودا مذهب ډیر پرمختګ وکړ. نو ځکه دلته له میلاد څخه مخکې د دریو پیړیو یونانو باختري دورې وضعیت او ټولنیز حالات په پام کې دي

له میلاد څخه له دریمې پیړۍ تر لومړۍ پورې په افغانستان کې پیشه ورۍ ښه وده وکړه. د پړ توړلو. حکاکۍ او مهر جوړولو صنعت ترقي کړې وه ورو ورو د افغانستان یونانو باختري صنایعو هم په هندوستان او هم په چین او مرکزي آسیا کې اغیزه درلوده. سنګیانګ او سیالکوټ په چین او هند کې ددغو صنایعو د پراختیا مرکزونه وو له دې امله چې یوناني لیکدود او ژبه له میلاد څخه درې پیړۍ مخکې په افغانستان کې منل شوي وو او د افغانستان له پراکریت او خروشتي لیکدود سره یو ځای په کارتلل. نو ښکاره خبره وه چې یوناني علوم لکه د هغوی میتالوجي د هېواد په کلتور کې راګډ شول همدارنګه له میلاد څخه درې پیړۍ مخکې پهلوي او پارتي لیك افغانستان کې پیژندل شوي و چې د خروشتي او یوناني لیك ترڅنګ تر میلادي دریمې پیړۍ (د لویو کوشانیانو او د ساسانیانو تر واکمنۍ) پورې پاتې و او د پارتي پهلوي لیك سرچینه او پیل هم هماغه آرامي لیك و. خو یوناني لیك چې په افغانستان ترلې پولې درلودې، له لومړۍ میلادي پیړۍ څخه وروسته مخ په ورکیدو شو او د افغانستان په سکو کې یې بدلون او کمښت راغی دغه لیك بدلون وموند دغه بدلون موندلي لیك (یونانو کوشاني خط) تر دریمې میلادي پیړۍ پورې عمر وکړ له دې پرته د هېواد په پلازمېنه، باختر کې په بیلا بیلو ژبو خبرې کېدې لکه سغدي، پهلوي، یوناني او نورې کورنۍ سره ورته لهجې چې خلك ټول یو د بل په ژبو پوهیدل. خو د هېواد د لرغوني ژبې او لمړنۍ اویستايي ژبې په هکله څه معلومات نشته، خو دا څرګنده ده چې له اسلام څخه مخکې دوران کې په افغانستان کې سغدي، پراکریت، سانسکریت، یوناني، پارتي، پهلوي، اسکايي او تخاري ژبې ویل کېدې. تر ټولو وروستۍ یې دري ژبه وه، چې له اسلام څخه مخکې ویل کیده او لا په اوومه پیړۍ کې دود وه.

په دغه دوره کې سوداګري او د پیسو دوران پراختیا وموندله. ښارونه ښه آباد وو او د سپینو زرو

Scanned by CamScanner

سکې، د نکلو او سرو زرو سکې هم رواج وې. د باختریانو په بازارونو کې ډول ډول وریښمین او ململ توکران، درمل، خواږه خوراکونه، فلزي سامانونه، مسي او د سپینو زرو وسایل او ګاڼې وې. د چین خوانه یوه سوداګریزه لاره له بدخشان څخه یارکند ته او بله له فرغانې او کاشغر څخه ورتله. د افغانستان او چین ترمنځ سوداګري له میلاد څخه دوه پېړۍ مخکې پیل شوې وه. چین ته د افغانستان صادرات زیاتره لوښي، قیمتي ډبرې او ګاڼې وې او واردات یې وریښم، لاك، پوستکي، وسپنه، سره زر، سپین زر او نکل وو. په لویدیځ کې سوداګریزه لاره له هرات او پارتیا څخه ایران ته تللې وه همدارنګه د جیحون سیند چې لکه د سند په شان د بېړۍ چلولو وړ و، ارال سمندرګي ته ورته او یو طبیعي کانال هغه د خزر له سمندر سره نښلاوه او د خزر له شاو خوا سیمو څخه سوداګریزه لاره تر تور سمندرګي پورې رسیدله. د هېواد په ختیځ کې سوداګریزې لارې له باختر څخه د هندوکش له لارې کابل او کاپیسا ته او بیا هډې ته او له هغه ځایه پېښور ته تللې وې او دا بیا د سند دریاب ته رسیدلې وې. یوه بله لاره له کاپیسا او نجراب څخه لغمان، سوات او بیا پېښور ته تله او بیا تکسیلا ته رسیدلې وه. په دغو ټولو لارو کې لوی لوی سوداګریز کاروانونه تلل راتلل او په عملي توګه یې ددغو هېوادونو کلتور، عقاید او صنایع یو بل ته لیږدول. افغانستان چې ددغې څلور لارې په مرکز کې و، تر ټولو زیات په دغه راکړه ورکړه کې برخه اخیسته. نو له همدې امله ددغه هېواد تاریخي ځانګړنې ډېرې را څرګندیږي. له سیاسي پلوه هم همداسې و. افغانستن له شمال، لویدیځ او ختیځ لوري څخه، په تیره بیا د شمال له لوري د بیلا بیلو ملتونو را ننوتل و زغمل او په عوض کې یې په دغو ملتونو کې نفوذ هم وکړ او ډېر څه یې په هغوی هم و منل او سیاسي واك یې ورباندې درلود. دغه جریان د هنر، ادب، موزیك او نورو ټولنیزو مسایلو په هکله هم صدق کوي. هغه څه چې واقعیت دی. دادی چې په دغو ټولو پېښو کې او د زرګونو کلونو په ترځ کې د افغانستان خلکو په بنسټیزه توګه خپل هویت ساتلی دی او بل هیڅ ملت و نشو کولای چې د دوی ځای نیوونکي شي، بلکې ډېر ځواکمن یرغلګر یې د هغوی له هر څه سره دلته تحلیل کړي. په یونانو باختري دوره کې معموله وسله په افغانستان کې غشي او لیندۍ، نیزه او توره او چاړه او ژوبین زره (زغرې) او سپرونه وو. افغانستان سپاره او پلي لښکر درلود او د جګړې په میدان کې یې نظامي اراده او جګړییز پیلان هم په کار وړل. د هغه وخت په افغاني ټولنه کې (له میلاد څخه له درې پېړۍ مخکې را نیول تر لومړۍ پېړۍ) د افغانستان مرئیتوب د یونان د مرئیتوب بڼه نه درلوده او نه یې هم طبقاتي قیود لکه د هندوستان د طبقاتي قیودو په شان کلك وو. له دې سره سره د یونان تمدن د سکندر له وخته پیل او د میلادي لومړۍ پېړۍ تر پیل پورې له شرقي تمدن سره ګډ شو او درې سوه کاله یې لرغوني نړۍ اغیزې لاندې وساتله. ددغه تمدن د خپریدو مهم مرکزونه په ختیځ کې مصر او پرګام (په کوچنۍ آسیا کې) او په منځنۍ ختیځ کې، افغانستان و. د آی خانم د ښار او د کوکچې او آمو سیندونو سره یو ځای کیدو په سیمه کې د پخوانیو ښارونو په کنډوالو کې د فرانسوي لرغونپیژندونکو کنیدونو وښوده چې دغه لوی (یونانو باختري) ښار له میلاد څخه مخکې څلورمې پېړۍ پورې اړه لري چې د معمارۍ د یو لوړ سبك لرونکی و چې په هغو کې راز راز یوناني تزئینات په

کار تللی وو آی خانم ښار د زمري د سرونو د مجسمو، لویو ستنو، لویو ودانیو، سالونو، سینګار شویو دیوالونو او د تیرو د ستونونو لرونکی او یو ښتمن ښار و. دغه ښار د یونانو باختري هنر ښکارندوی هم دی چې د (کوشاني او ګریکوریک بودیک) د هنر سرچینه بلل کېږي. همدا رنګه له دې ځای څخه تر لاسه شوې سکې (مسکوکات) چې د کندز او قلعه زال له خزانو څخه موندل شوي دي. په هغو کې د ګریکو باختري مسکوکاتو بیلګې موندل شوي دي او د جلال آباد له هډې څخه موندل شوي پړونه په افغانستان کې د یوناني هنر د خپوروالي ښه څرګندونه کوي.

## دوهم

## افغانستان د کوشاني دولت پرمهال

### (له ۴۰ میلادي کال څخه تر ۲۳۰ میلادي پورې)

سیستي قبایل په اصل کې په کاشغرستان کې میشت او له چین سره ګاونډیان وو، همدارنګه دوی د سیمون په حوزه کې او د خزر د سمندرګي شمال او د تور سمندرګي شمال لوري ته ژوند کاوه چې له میلاد څخه له اوومې پیړۍ څخه تر دریمې پیړۍ مخکې پورې له تیانشان څخه تر ارال پورې یې د ژوند سیمې پراخه شوې کوشانیان یا یوچیان د سیستي قبیلې هغه برخه وه چې د ختیځ په سیمو کې اوسېدل او دوی د تویین هوانګ او کی لین سیمو ترمنځ خواره وو دوی له هوانګنو قبیلې سره شخړې کولې په پای کې کوشانیان د هیوانګنو د قبیلې د زور له کبله له خپلې سیمې څخه ووتل. له ایلی او تارم څخه تیر شول او په بین النهرین (سیحون او جیحون) کې و پنځېدل د همدې زور له امله اسکایي قبایل د تخاریانو په ګډون له هغو ځایونو څخه مخ په افغانستان راغلل او د تخارستان سیمه له همدې امله د تخاریانو په نوم و نومول شوه. خو یوچیان له میلاد څخه مخکې په لومړۍ پیړۍ کې له جیحون څخه پورې وتل او د باختر سیمې یې ونیولې د افغانستان په شمال کې د دفاعي سیستم نشتوالي، د دغه سیمو د هوارو او پستو ځمکو په لرلو سره او د شتمنو ښارونو له امله تل تر ګوابښ لاندې وو او د مرکزي آسیا کېږدیو کې د اوسېدونکو خلکو پام یې ځانته اړولی و. خلکو په سارایي لوړو سیمو کې څاروي روزل او په کېږدیو کې اوسېدل او ټول کوچیان وو چې تردې مهال پورې یې د ځمکې ملکیت نه پېژاند او له مدني ژوند څخه وروسته پاتې وو. خو ددې پر ځای په جګړو کې ډېر تکړه ول او افغانستان چې د منځنۍ آسیا ترڅنګ پروت و. ددغو یرغلونو لاندې راته روایتونه وایي چې د تورانیانو یرغل پر افغانستان باندې ډېر پخوانی لرغونتوب لري چې کله هم دغه یرغلونه نه دي درول شوي او وروسته بیا په نورو کلونو کې هم سیستي بېلا بېلو قبایلو له منځنۍ آسیا مخ په افغانستان مخه کړې چې یوه یې هم د یو چي قبیله وه. خو خبر همدلته پای ته و نه رسېدله، بلکې په نورو راتلونکو پېړیو کې هم له شمال لوري پر افغانستان بېلا بېل یرغلونه شوي دغه برخلیک یواځې د افغانستان په برخه کې نه وو، بلکې په نوره مرکزي آسیا کې هم یرغلونو دوام درلود او تر هندوستان او ایران پورې هم ورسېدل په دې توګه لیدل کېږي چې له شمال لوري څخه هجرتونه او یرغلونه د افغانستان د تاریخ په ترڅ کې ډېر اغیزمن وو. خو دا هم باید وویل شي چې د ټاکلې یرغل او ځینې وخت هجرت او راتګ ترمنځ ډېر توپیر و. هغه تر ټولو خونړۍ یرغل چې هجرت ورسره یو ځای نه و او لکه د یو سیلاو په شان راغلی او بیرته تللی او خپلې شاته یې پرته له ورانۍ څخه نور څه نه دي پرېښې هغه د چنګیز یرغل و

چنګیز خان ته غوښتل چې په دغه هېواد کې مېشت شي هغه غوښتل بېرته ستون شي او خپله سارایي امپراتوري ټینګه کړي خو له هجرت سره یو ځای نورو یرغلونو دومره ویروونکي پایله نه درلوده. ځینو یې لا د هېواد په پرمختګ کې مرسته هم کړې د بېلګې په توګه د کوشانیانو یرغل او مهاجرت همداسې یو رانګ وچې دوی په زرګونو کورنۍ افغانستان ته راغلي او همدلته پاتې شوې او ددغه هېواد او سېدونکي شول دغو نویو راغلو خلکو د هېواد د هځووب په بدا پېنه کې برخه واخیسته او په دې توګه د ټولنې پرمختګ دوام و موند په هر حال. وروسته تر هغه چې یو چې قبایل د افغانستان په شمال ولایتونو کې مېشت شول. هرې طایفې خپل مشر درلود چې د هغه تر لارښوونې لاندې یې ژوند کاو یو وخت د ټولو کوشانیانو مشر د قبایلو مشران خان ته تابع کړل او په دې توګه د افغانستان کوشاني دولت را منځته شو. د کوشانیانو لومړنی څواکمن پاچا (کجولا کدفزس) نومېد. چې په څلوېښتم میلادي کال له هندوکش څخه را تېر شو او د کابلستان دولت یې چې پارتیانو او پهلوا په هغه کې ډېر واك درلود و نړاو کجولا کدفزس نه یوازې دا چې کاپیسا او کابلستان تر سند پورې له باختر او سغدیانه سره یو ځای کړل، بلکې په لویدیځ کې هم تر پارتیا (نننۍ خراسان) پورې پر مخ ولاړل په دې توګه وروسته تر یونانو باختري دولت څخه. یو ځل بیا د افغانستان سراسري دولت جوړ شو دغه کار تر ۷۸ میلادي کال پورې بشپړ شو

وروسته تر پلار څخه ویما یعنی دوهم کد فزس شمالي هندوستان ونیو او د روم امپراتور (تراجان) ته یې هم خپل استازي ولیږل تر څو له هغوی سره سیاست او اقتصادي اړیکې ټینګې کړي دا ځکه چې رومیانو د مدیترانې آسیایي سواحل چې د وریښمو د سوداګرۍ د لارې پای و. په واك کې درلودې له دې امله چې رومیان شتمن خلك وو. او د چین د وریښمو د ټوکرانو شوقیان وو او د تجمل شیان لکه عطر او هندوستاني درمل او نور یې هم خوښول. نو دوی کولای شول له هندوستان او چین سره په سوداګرۍ کې ډېر شیان وپلوري. او وپیري او ددغې سوداګرۍ د ترانزیټ لاره له افغانستان څخه تېریدله. په دې توګه افغانستان ته ډېرې پیسې پاتې کېدې دوهم کد فزس و غوښتل چې د وریښمو د لارې سر رشته د کاشغرستان په نیولو سره هم خپل واك کې ولري، خو دچین دولت چې د پر له پسې جګړو له امله د وریښمو لاره په ۹۲ میلادي کال کې پرانیستې وه. ویې نه غوښتل چې افغانستان خپلې موخې ته ورسیږي. کوشاني لښکرې په کاشغر کې د چینایانو له لاسه ماتې وخوړه او کوشاني پاچا له خپل ټول هغه پرتم او ځواك سره چې درلود یې د چین دولت ته یې کلنی باج او خراج ورکول و منل

د افغانستان تر ټولو ځواکمن کوشاني پاچا (کانیشکا) و چې د ۱۲۰ او ۱۲۰ میلادي کلونو ترمنځ یې سلطنت وچلید. دغه سرې خپل پلازمېنه د هندوکش له شمال څخه د هندوکش جنوب ته را ولیږدوله. په کاپیسا کې یې بګرام د اوړي او پېښور یې د ژمي پلازمېنه وه کنیشکا د هېواد په شمال لویدیځ کې، اشکاني دولت ته ماتې ورکړه او په شمال مشرق کې یې چیني ترکستان (کاشغر، یارکند او ختن) و نیول او له چیناني شهزادګانو څخه یې یرغمل ونیول په دې توګه د هغه د پاچاهي وربوی د ګنګ او جیحون له غاړو نیولې تر تارم او ایران پورې ورسیده

له کنیشکا څخه وروسته د هغه ځای ناستي هریو د هندوستان شتمني، هوارو او نرمواو تودو سیمو ته پام واړاو. تر څو چې د هند په پراخه او ژور سمندرکی ورګډ شول او همالته پکې ورک شول
په دې توګه د افغانستان د تاریخي خانګړتیاوو یوه بله دوره بیا را څرګنده شوه او هغه دا چې د تاریخ په تګلورې کې د افغانستان زیات شمیر دولتونه دومره د هندوستان خواته ور ښویېدلي دي چې په پای کې د هغه لوی چاپیریال په څنډو کې ورک شوي دي
(واسودوا) د کوشانیانو وروستی پاچا (۱۸۲ - ۲۲۰ میلادي پورې) و چې په هند کې له منځه ولاړ په دې توګه د دغې ځواکمنې دورې څخه وروسته په افغانستان کې کوچنې سیمه ییز امارتونه د هندوکش په شمال او جنوب کې را څرګند شول له دغو سیمه ییزو حکومتونو څخه تر ټولو ځواکمن یې د کابلستان دولت و چې د هندوکش په جنوب کې له کاپیسا څخه د سند تر غاړو واکمن و

## ټولنیز وضعیت

د سترو کوشانیانو په دوره کې د افغانستان ټولنیز حالت له لومړۍ میلادي پیړۍ څخه نیولې تر دریمې میلادي پیړۍ پورې لکه د یونانو باختري دروې په شان و، چې په نویو شرایطو کې یې د نویو بدلونونو په منلو سره دوام وموند، څو څو عقیدې او دینونه لکه د پخوا په شان د درناوي وړ وو چې بودایي، زردشتي او برهمني طریقې ټولې په برابره توګه د دولت تر ملاتړ لاندې وې. کانیشکا په خپلو سکو کې د هېواد ټول ارباب انواع انځورول، خو بودایي دیانت په یوه پراخه سیمه کې خپورو کنیشکا په خپله بودایي شو چې وروسته تر هغه بودایي دین نور هم پراخ شو، له کنیشکا څخه مخکې د کد فزس پاچاهانو شیوایي دین درلود. د کوشانیانو ژبه ختنی بلل کیده، دا له تخاري څخه پرته یوه بله ژبه وه او په ډېرلیکونو او مسکوکاتو کې لیکل کیده دوی په خپلو مسکوکاتو کې یوناني ژبه هم را اخیسته، خو یوناني حرفونه ورو ورو له منځه تلل تر څو چې بیخي له لوستلو ووتل د هندوکش په جنوب کې سانسکریت او ځینو ځایونو کې پراکریت خلك هم وو ددغې دورې لیکدود هماغه د افغانستان ډېر پخوانی لیك (خروشتي) و چې له ښۍ خوا څخه کینې خواته لیکل کید. دغه لیك په افغانستان کې له میلاد څخه له پینځمې پیړۍ څخه مخکې تر پینځمې میلادي پیړۍ پورې، یعنی زر کاله عمر درلود. دغه لیك له بلخ څخه تر موهنجو، دیرو، سیستان او له هغه ځایه تر پنجاب پورې دود و چې آثار یې په افغانستان کې له بلخ، بامیان، وردك او هډې څخه موندل شوي دي مذهبي آثار د یو ډول ونې په پوستکي باندې په تور یا سره رنګ لیکل کیدل چې کاغذ ته ورته و، د هندوکش په جنوب کې برهمي لیکدود هم دود و چې هغه له کینې خوا څخه ښۍ خواته لیکل کید. مذهبي علما، پوهان، هنرمندان او ادیبان په دربار او په ټوله ټولنه کې ددرناوي وړ وو فرهنګ او ادب، په تیره بیا د بودایي مذهب فرهنګ ډېر د پرمختیا په حال کې و یونانو باختري صنعت چې له میلادي لومړۍ پیړۍ څخه مخ په ځوړ و، خپل ځای یې یونانو بودایي صنعت ته پرېښود چې دا د ګریکو باکتریان صنعت یوه څانګه وه. دغه نوی مکتب چې د بودایي مذهب او یوناني صنعت له افکارو او روحیاتو څخه په ګډه را منځته شوی و،

Scanned by CamScanner

د افغانستان د صنعت کارانو په مهارت سره یې ډېره ترقي وکړه او په دوهمه او دریمه میلادي پېړۍ کې خپلې لوړې پوړۍ ته ورسید. همدغه صنعت له افغانستان څخه لکه د بودایي دین په شان چین او مرکزي آسیا ته هم خپور شو. ددغه صنعت آثار او نښې د سمرقند په سیمو او د ختن د مزو کونو په کنډوالو کې لیدل شوي دي. د ګریکو بودیك د صنعتي مدرسې معماري، ودانۍ، جوړول او پژ تورل دومره په افغانستان کې پرمختګ وکړ چې لا اوس هم د بامیان حیرانوونکې مجسمې او بتان (چې د نړۍ تر ټولو لوېې مجسمې دي) کتونکې په حیرت کې اچوي. همدارنګه د هندوکش په شمال او جنوب او پېښور کې موندل شوې مزدکونه او سمڅې او کنډوالې ددې مدرسې په طرز باندې جوړ شوي انځورونه او نور ښکاره کوي. دا وخت انځورګري او رسامي هم ښه پرمختګ کړی و.

د ګردیز له میرزکې څخه تر لاسه شوي مسکوکات، د کابل د مرنجان غونډۍ له خزانو څخه موندل شوي ګانې او د بګرام د مزدك او د کاپیسا د (قول نادر) او د (شمشیر غار) او (شترك) موندل شوي مزدکونه او مسکوکات د کوشاني دورې او د مسیحي لومړۍ پېړۍ آثار دي. د کوشانیانو پر مهال د افغانستان سوداګري پراخه وه. دا ځکه چې د چین، هند او ایران د سوداګرۍ ترانزیت لارې یعنې د وریښمو لاره د افغانستان په لاس کې وه.

له کاپیسا څخه چین پورې اړوند لوښي، د ګاڼو د ساتنې د عاج ضد و قچي (چې هند پورې اړه لري) او ښیښه یې انځر و لرونکې لوښي (چې د مدیترانې په غاړو پورې اړه لري) چې تر لاسه شوي دي، دا ښکاره کوي چې د افغانستان سوداګري له هند، چین او مدیترانې سره په درز کې روانه وه. د افغانستان ددغې دورې مسکوکات د سرو زرو، مسو او مفرغ څخه دي.

موسیقي او ګډا هم د کوشانیانو پر مهال وده کړې وه. د بامیانو رنګه انځورونه او د موسیقي غږوونکو مجسمې چې په هډه کې موندل شوي، دوی ذوق څرګندونه کوي. د هغه وخت د موسیقي وسایل رباب، طبله، ډول، شپیلۍ، او نورو و. د نارینه وو جامې پرتوګ، موزې او ملا وستنۍ لرونکې چپنې وې. ښځو اوږده کمیسونه او پرتوګونه اغوستل او د مریو یو امیل یې په غاړو کې اچاو، ویښته به یې دوه کمڅۍ کول او شاته به یې اچول.

# دریم
# له کوشانیانو تر یفتلیانو
## (له ۲۲۰ میلادي څخه تر ۴۲۵ میلادي کال پورې)

له ۲۲۰ میلادي (د سترو کوشانیانو د ړنګیدو) څخه په افغانستان کې د یفتلیانو تر راتګ (۴۲۵ میلادي) پورې دوه سوه کلونه تیر شول ددغې مودې په ترخ کې هم په ټولنه او هم د هېواد په شا و خوا کې ډیر زیات بدلونونه راغلي وو په چین کې د (هانیانو) دولت ړنګ شو او (په ۲۲۰ میلادي کې)، په هندوستان کې د (ګپتا) نوی دولت ټینګ شوی و چې همدوی هلته د کوشانیانو پاتې شوني له منځه یوووړل د جیحون په شمال کې د مرکزي آسیا د کوچیانو یا پوونده خلکو فشار مخ په باختر باندې را زیات شوی و. آن دا چې کوشانیانو له بدې ورځې د هندوکش له شمال څخه د هندوکش جنوب ته راغلل او پلازمېنه یې هم راوړه د دریمې پیړۍ له پای څخه وروسته یفتلیانو د جیحون د شمال سیمو ځمکې ونیولې د افغانستان په لویدیځ کې د پارتیانو دولت چې د دوهمې پیړۍ له نیمایي څخه را په دې خوا مخ په ړیدو و، په ۲۲۴ میلادي کې د ساساني اردشیر په لاس نسکور شو. په همدې پیړۍ کې د روم امپراتور (والیرین) د ساساني شاهپور په لاس له واک څخه و غورځول شو او په ۲۶۰ میلادي کې بندي شو. همدا وخت د افغانستان ترڅنګ یو ځواکمن دولت جوړ شو چې لویدیځ ولایتونه مو ورو ورو د ساسانیانو تر یرغلونو لاندې راغلل. له یوې خوا د چین لاسوهنو او هڅو د افغانستان سوداګریزې ګټې له زیان سره مخامخ کړې، له بلې خوا ساساني دولت د وریښمو لاره په سم نیمایي کې پرې کړه او چین او افغانستان دواړه بې لار او بې پېښو شول کله چې په دې توګه د وچې لاره بنده شوه، رومیانو سمندري لاس ته پام واړاو او د بېړیو په واسطه یې د هندوستان دلتا یعنې د هند د سمندر او د سند له لارې سوداګري یې ته دوام ورکړ د چین سوداګري دوام وموند. خو د افغانستان ترانزیت ته زښت ډیر زیان واوښت

ساساني دولت چې په دریمه او څلورمه میلادي پیړۍ کې د افغانستان په شمال لویدیځ کې واکمن شوی و او اغیزه یې تر کابلستان پورې را رسیدلې وه، لکه د خپل پخواني دولت (پارتي) په شان یې فیوډالي رژیم درلود. خو افغانستان د غلامۍ د دورې له اقتصادي او فرهنګي زوال سره مخامخ و او برده ګي یا مرئیتوب خپلې وروستۍ شیبې تیرولې چې د فیوډالي مرحلې لومړي پړاو ور نژدې کید. ددغه پیښو په ترخ کې او د یوې پیړۍ په موده کې د کوشانیانو هغه برخه چې په باختري سیمو کې میشت وو او د مرکزي آسیا تر ګوزارونو او ګواښونو لاندې وو، له باختر څخه لویدیزو ولایتونو او یو څه یې د هندوکش جنوب ته ولاړل. د هغو ډلو مشر چې د هندوکش جنوب ته راغلل (کیدارا) و. هغه و کولای شول چې د کوچنیو کوشانیانو دولت دلته جوړ کړي. دغه دولت چې له کاپیسا څخه د سند تر غاړو پورې یې اداره په لاس کې لرله، د یفتلیانو تر راتګ پورې یعنې تر پېنځمې میلادي پیړۍ پورې یې عمر وکړ چې د دوی د. واکمنو لړۍ ته کیداري سلسله ویل کېږي. ددغې سلسلې د سپینو زرو

مسکوکات د دوی د دولت پېژندنه کوي سره له دې چې د دغې دورې تاریخ تر اوسه پورې هم ډېر څرګند نه دی. خو بیا هم دومره پوهېدای شو چې د سترو کوشانیانو پاتې شونې د هېواد په شمال او شمال لوېدیځ کې له ساساني دولت سره و جنګېدل د ساساني دولت زمونږ د هېواد له اوسېدونکو سره له څو جګړو وروسته و توانېدل چې د هېواد په شمال غربي او لوېدیځو سیمو کې خپل واک ټینګ کړي د هندوکش په جنوب کې کیداریانو هم د څلورمې پېړۍ په ترڅ کې د ساساني دولت سره له څو څو څله جګړې وروسته تر څلورمې او پنځمې پېړۍ پورې خپل شته والی ثابت کړی و. دوی د هندوستان د (ګپتا) دولت سره د روغې جوړې لاره ونیوله او د خپلې خمکنی بشپړتیا ساتنه یې وکړه

# څلورم

# افغانستان د یفتلي دولت پر مهال

## (له ۴۲۵ میلادي څخه تر ۵۶۶ پورې)

هیاطله یا یفتلیان (یپتلیان) چې په تاریخ کې په څو څو نومونو یاد شوي دي. په اصل کې د سپیني قبایلو یوه برخه وه، چې له د کوشانیانو په شان د شمال مشرق له خواوو څخه د سیحون حوزې ته را ننوتل او د درېیمې پېړۍ تر پای پورې یې د جیحون د شمال سیمې ونیولې. دوی د پېنځمې میلادي پېړۍ په پیل کې له جیحون څخه را پورې وتل او د افغانستان شمال ته راغلل چې لومړی ځل یې په ۴۲۵ میلادي کې په تخارستان کې دولت جوړ کړ. په یفتلیانو کې (زوالی) طایفه تر ټولو نامتو وه. دوی په غزني کې میشت شول او هغه سیمه وروسته د همدوی په نوم د زابل یا زابلستان په نوم یاده شوه د یفتلیانو لومړني پاچایان د افغانستان په تاریخ کې د (افتایلو) او د مهرپور) په نومونو پېژندل شوي دي. دوی له ساساني دولت سره چې د افغانستان په لویدیځ او شمال لویدیځ ولایتونو کې واکمن وو. په جګړه اخته شول. په لومړۍ جګړه کې مرو ته نژدې یفتلیانو د ساساني بهرام ګور له لاسه ماتې وخوړه، خو د پېنځمې میلادي پېړۍ په دوهمه نیمایي کې یې ساساني دوهم یزدګرد ته د مرغاب په سیمو کې ماتې ورکړه د یفتلیانو تر ټولو نامتو او ځواکمن پاچا (اخشنور) نومید، چې په میلادي ۴۲۰ کال پر تخت کښیاست اخشنور یو ځل بیا ساساني دولت سره ونښت چې د یوې ډېرې کلکې جګړې په ترڅ کې یې د ایران لښکر تباه کړ او ساساني شهنشاه (پیروز) یې چې په ۴۵۱ کې پر تخت ناست و، بندي کړ. کله چې پیروز (فیروز) د دوارو هېوادو د پولو د ټاکلو تر څنګ د نه تیرې تړون لاسلیک کړ او پر ځان باندې یې کلنی باج و مانه او خپل زوی (قباد) یې د یرغمل په توګه دلته پرېښود، بیرته خوشې شو. ساساني فیروز چې له جګړې څخه دوه کاله وروسته یې پیسې او باج یفتلي دولت ته ورکړي او خپل زوی قباد یې بیرته له یرغمل کیدو څخه ور خوشې کړ، په ۴۸۰ کې یې پر افغانستان یرغل وکړ. له یفتلیانو سره جګړه په یوه سارایي سیمه کې پېښه شوه، په پایله کې ایرانۍ اردو ماتې سره مخامخ او فیروز د جګړې پر میدان کې ووژل شو. په ایران کې د فیروز ورور (بلاش) د زردشتي روحانیونو په ملاتړ پاچا شو. اخشنور قباد (چې د اخشنور اوښی و او اوس یې دده دربار ته پنا راوړې وه) تر ساتنې او ملاتړ لاندې ونیو او له یو مرسته کوونکی پوځ سره یې د ایران پر تخت کیناو او دا یې ورته وټاکله چې ایران به د باج پیسې په هغو سکو باندې ورکوي چې په کوشانو یفتلي الفبې کونده کړې وي. دغه ډول باج سپارل ایران ته ډیر ستونزمن و. ایران اړ و چې ددغو پیسو د پوره کولو لپاره د ختیز روم له امپراتوري سره جګړې وکړي او دا آسانه کار نه و. په پای کې اخشنور کله چې پر ایران بری وموند، د

هندوکش جنوبي ولایتونه یې له کاپیسا څخه تر پېښور پورې له کیداري دولت څخه (چې پلازمېنه یې په پېښور کې وه) ونیول هغوی ټول یې ختیځ و غوڅو ته و څغلول. په دې توګه د افغانستان سیاسي یووالي بیرته ټینګ شو

کله چې اخشنور ومړ. نور نو له شمال او لوېدیځ څه افغانستان ته کوم ګواښ نه و پیښ. د یفتلیانو بل پاچا (نورامانا) هندوستان ته مخ واړاو او تر پنجاب پورې پر مخ ولاړ د نورامانا ځای ناستي (مهرا کولا) د پلار په پله ګام کې کېښود او هندوستان ته ورغی. ده د څو جګړو په ترځ کې د هندوستان د ګیتایانو لوی دولت ته ماتې ورکړه او هغه یې په څو کوچنیو امارتونو وویشه. خو هندوستان ده له کلک تیري او ظلم څخه په غوسه و په دې توګه کوچنیو کوچنیو سیمه ییزو واکمنو د هغه په وړاندې یو څواکمن پیوستون را منځته کړ او په ۵۲۸ میلادي کې یې د یوې لویې جګړې په ترځ کې مهرا کولا مات کړ او هغه یې د سند او کشمیر خواته و څغلاو دغه پېښه د هندوستان د خپلواکۍ او د یفتلي دولت د نړیدو لامل شوه. له هغه وروسته افغانستان د یو څو کوچنیو یفتلي امیرانو او څو سیمه ییزو امارتونو تر واک لاندې پاتې شو چې ځینې مسکوکات یې شته. دغه بڼه تر ۵۶۷ میلادي پورې روانه وه.

## په دغه دوره کې د افغانستان ټولنیزه اوضاع

د یفتلي دولت پر مهال په عمومي توګه د افغانستان ټولنیز وضعیت لکه د کوچنیو کوشانیانو د دورې په شان و. خو یو څه سرچپه بدلونونه هم ور سره وو سره له دې چې له چین. ایران او هند سره سوداګري روانه وه. پیشه وري هم ښه وه. خو سره له دې هم د هندوکش په شمال او جنوب کې د یو شمیر ښارونو خلا پریوتې وه او ګریکو بودیك نامتو صنعت هم له منځه تللی و. په تیره بیا مجسمه جوړولو ته یوا‌ځې سوداګریز اړخ پاتې و د صنایعو له خلا پریوتل د هغو مسکوکاتو له بې خونده انځورونو څخه ښکاري چې له یفتلي دروې را پاتې دي د یفتلي دولت پر مهال د هېواد کلتوري او اقتصادي وضع خرابه شوه او په چین کې د فیوډالي مناسباتو شرایط مخ په ټینګېدو وو. بیا هم افغانستان د هندوستان او منځنۍ آسیا ترمنځ د هنري اړیکو لاره وه. د بودایي مزدك هغه کیندنې چې په فندقستان کې شوې، څرګندوي چې په هغو کې د (ګیتابودیست د هنر) د ایراني هنر او د ګریکو رومن هنر اغیزې شته. د بامیانو د لرغونو آثارو نښې هم د ساساني او د مرکزي آسیا د بودایي هنرونو په بڼه دي. د بامیانو او فندقستان د یوالي انځورونه د افغانستان د پینځمې میلادي پیړۍ انځورونه او بودایي، نستوري او مانوي هغه انځورونه چې په افغانستان کې د چیني رختونو او لرګیو پرمخ لیدل شوي دي. یو بل سره ورته والی لري (دغه انځورونه پورتنیو درې مذهبونو پورې اړه لري) د کابل د خیرخانې د غابښې کیندنې څرګندوي چې دا د لمر د رب النوع مزدك و چې پینځمې میلادي پیړۍ یعنی د افغانستان د یفتلیانو دورې پورې یې اړه درلوده.

په افغانستان کې د یفتلي دولت اهمیت زیاتره له سیاسي پلوه و. دا ځکه چې دغه نظامي دولت د

افغانستان سیاسي یووالي یو ځل بیا (وروسته تر سترو کوشانیانو) خوندي کړ. چې سیاسي پولي یې له مرکزي آسیا څخه تر شمالي هندوستان پورې وې. یفتلیان هم ښار میشته او هم کوچیان وو. په اوړي کې یې بدخشان او په ژمي کې یې باختري سیمې خوښولې. دوی د کوشانیانو بر خلاف، بودایي دین ته درناوی نه کاو. خو د هغه پر ځای یې برهمني او د افغانستان میتر (میترا) لمانځنې څخه ملاتړ کاو.

Scanned by CamScanner

# پېنځم څپرکی

## په افغانستان کې د ترک عناصرو راتګ او د ساساني دولت واکمن کېدل

ختیزې او مرکزي آسیا، په ختیځ کې منچوریا، د خینګان غرونو او د چین له ستر دیوال سره او په لویدیځ کې د خزر سمندر سره پولې درلودې. ددغې پراخې سیمې په شمال کې د سایبریا دښتې او په جنوب کې یې د تبت او همالیا لوړ غرونه وو. د خزر او بالکل ترمنځ ځمکې یې لویدیزې برخې وې، د پامیر له لوړو او د بالکل له حوزې څخه نیولې تر خینګان او د چین تر دیوال پورې یې ختیزې برخې وې او د مغلستان سیمه هم ددغې پراخې ساحې شمالي برخه کې راتله. په مجموع کې مرکزي آسیا او ختیزې آسیا، دواړو تودې شګلنې دښتې هم لرلې او سړې سیمې هم پکې وې همدارنګه د وښو لرونکې او شنه غرونه یې هم لرل چې ژوند ته ډېر ښه برابر و. ژوند او څارویو روزنې ته دغه ډېرې ښې برابرې سیمې دادي: بالکل (د مغلو د اوسېدو اصلي ځای) حوزه، بالخاش (د ترکانو د اوسېدو اصلي ځای)، تاریم (د آري قبیلې پخوانی ځای چې بیا وروسته ترکانو ونیو)، د ماوراالنهر په ګډون د اورال حوزه (د سیحون او جیحون ترمنځ ځمکې) او د خوارزم سیمه چې د اورال حوزه په اصل کې د آریائیانو د اوسېدو ځای و چې ورو ورو ترکانو او ترکمنانو دغه سیمې ونیولې او بیا په اکثریت بدل شول او خپل دولتونه یې پکې جوړ کړل. په اصل کې هغه مهال چې مغل قوم له آسیایي آریائیانو سره ګډ شول، د (ترک) په نوم و نومول شول وروسته بیا ترکمنان هم د ترکانو له ګډو عناصرو څخه پیدا شول. وروستني سلجوقیان د همدغو ترکمنانو یوه څانګه ده، حال دا چې ازبکان د ختیز تورکان دي او ژبه یې (چغتایي ترکي) ده چې له ترکنمي ژبې سره نژدیوالي لري. دغه خلک یو د بل په ژبه پوهېږي. د ترکیې د نن ورځې ترکان، لویدیز تورکان دي، د مرکزي او ختیزې آسیا خلک زیاتره په کېږدیو کې لومړنی ژوند درلود، چې دې ډول ژوند دوی شتمنو سیمو باندې یرغل کولو او بډایو سیمو ته په مهاجرت کولو هڅول. له همدې امله افغانستان، ایران، ماوراالنهر او چین د دوی تر یرغل لاندې راغلل. همالیا غرونه هند ته د دوی د ورتګ لپاره خنډ وګرځېدل، نو د ماوراالنهر او د افغانستان لاره هند ته د یرغلګرو لپاره غوره وه. د بابر دولت له همدې لارې په هند کې جوړ شو او د سلجوقیانو دولت د ایران له لارې کوچنۍ آسیا پورې ورسید. دغو دواړو دولتونو دري ادب او ژبه په هندوستان او کوچنۍ آسیا کې رواج کړل. ترکانو هغه د کېږدیو ژوند چې درلود، له هغه سره یو ځای یې په ختیز ترکستان کې یو څه اوچت تمدن، لیک او ادب درلود. دوی هلته له صنعت، فلز جوړولو او اوبدلو سره هم بلد وو. دوی په ترکي لیک کې سریاني الفبې ومنله او لکه د اویغور تورکانو په شان چې په اتمه پېړۍ کې د ترکي تمدن په سر کې درېدلي وو او کړنې،

اوبه لګولو او ښاري ژوند ته يې پاملرنه کړې وه، دوی هم په لويديځ تورکستان او ماورالنهر کې پر مختللی سياسي مؤسسې جوړې کړی البته وروسته مغولو په دولسمه پيړۍ کې له همدغو او يغورو څخه ليك زده کړ او له ترکي قراخيانو سره يو ځه د کلتور خاوندان شول چې د اويغور او چينايانو د تمدن اغيزه ور باندې وه. له دې ټولو سره سره مدني ترکانو او بدوي تورکانو د شرك او بت پالنې له مذهب څخه نيولی تر زردشت، مانوي، بودايي او عيسوي پورې ټول و منل په لسمه پيړۍ کې بيا لږ لږ اسلام سره آشنا شول او يو وخت بيا د اسلام ښه پالونکي شول خو د بدوي ترکانو هغه قبايل چې دافغانستان، ايران او ماورالنهر ته راغلی وو، ور ورو د همدغو هېوادونو د کلتور تر اغيزو لاندې راغلل او وروسته بيا د نورو بدوي يرغلګرو مغول او تورکانو په وړاندې د دغه کلتور ساتونکي شول همدوی يو وخت په هندوستان او کوچنی آسيا کې د اسلامي تمدن خپروونکی هم وشميرل شول. کوچنی آسيا ته دتورکانو او ترکمنانو په راتګ کې کوم توپير چې ښکاري هغه دادی چې په ځينو هېوادو کې ترك عنصر و کولای شول چې د يو واکمن ځواك په توګه د ترکانو د اکثريت لرونکی دولت جوړ کړي. د بيلګې په توګه په خوارزم او ماورالنهر کې يا په کوچنی آسيا (اوسنی ترکيه) کې د ترکمنانو د حکومتونو جوړول يادولای شو، خو په يو شمير نورو هېوادونو کې د ترك عنصر د هغوی له اصلي وګړو سره ګډ شو او ددغو هېوادونو کلتور او ژبه يې و منله او د هغوی په ملت کې و شميرل شول د بيلګې په توګه په ايران، افغانستان او هندوستان کې همداسې وشول. په افغانستان او ايران کې د ادبياتو په تاريخ کې د تورکانو او تاجيکانو نوم يو بل سره په تړلې بڼه د يوه ملت په بڼه راغلي دي، نه يو د بل په وړاندې جلا جلا. په هندوستان کې دغه مفهوم يو بل شکل درلود، هلته په دوو ملتونو يعنی مسلمانانو او نا مسلمانانو باندې وويشل شو، دا توپير پکې نه و چې دغه مسلمان د افغانستان دی که د هند، افغان و که تورك يا بل څوك.

په هر حال: د ترك د عنصر لومړنی څپه په شپږمه ميلادي پيړۍ کې افغانستان ته راغله. التايي ترکان چې د پينځمې پيړۍ په لومړيو کې د (توبا) د امپراتورۍ تر يرغلونو لاندې راغلي وو، وروسته بيا په منګوليا کې د جوان جوان پر قبايلو واکمن شول او دې پسې وروسته لويديزو مورچلونو ته ولاړل او د تارم له حوزې څخه نيولې تر سيحون پورې خواره شول، دوی په سغديانه کې يفتليانو ته ماتې ورکړه او د شپږمې ميلادي پيړۍ په دوهمه نيمايي کې يې د لومړي ځل لپاره په جيحون کې نوم واوريدل شو. تورك لومړنی لوی امپراتور (تومن) چې له منګوليا څخه تر اورال پورې واکمن و، همدا وخت ومړ او دده پراخه واکمني په دوو ختيځ او لويديځ برخه وويشل شوه. ختيز دولت په منګوليا کې د تومن خان د زوی موګان خاقان تر لارښوونې لاندې جوړ شو. لويديز دولت د تومن امپراتور د ورور (ايستامی خان بيغور) تر پاچاهي لاندې جوړ و چې په کاشغرستان. سيحون او اورال برخو باندې واکمن و. د لويديځ ترکانو دولت ډير ژر د ايران له ساساني دولت سره يو ځای شو او د افغانستان په شمال کې يې يفتلي کوچنی حکومت ړنګ کړل. په ٥٦٦ ميلادي کې د جيحون ښی غاړې تورکانو او د جيحون کيڼې غاړې (د باختريان خمکې) د ساسانيانو پاچا (خسرو انوشيروان) ونيولې او د افغانستان شمال لويديځ ايالت هم

انوشیروان ونیو. خو یو څه موده وروسته دغو دواړو هپوادونو یعنې د ترکانو او ساسانیانو (د ایران د واکمنو) ترمنځ اړیکې خرابې شوې دا ځکه چې د وریښمو پر لاره د را تیریدونکو مالونو پر سر تورکانو له ایران څخه د خپل مال التجاره د آزاد ترانزیت حق غوښت. خو ساسانیانو دغه غوښتنه نه منله. نو په دې موضوع مخالفت پیدا شو او د لویدیځ ترکان ییغوی (تاردو خان) د شپږمې پیړۍ په پای کې په زور سره ساسانیان د افغانستان له شمال ایالت څخه یعنې له بدخشان څخه تر میمنې پورې و شړل او مخ په لویدیځ یې و څغلول او په ځیله یې د ساسانیانو ځای ونیو. کله چې دغه ډله له غربي ترکان څخه شمالي افغانستان ته راغلل، د هندوکش په شمال کې یې ملوك الطوایفي حکومت جوړ کړ چې د ۳۰ شاو خوا کوچني امارتونه یې لرل چې د ټولو پلازمېنه په کندز کې وه او د لوی واکمن تابعیت یې کاو. د افغانستان په شمال کې دا حکومت او د هندوکش په جنوب کې د کاپیسا حکومت، چې له کابلستان څخه تر سند پورې و او د لسو سیمه ییزو واکمنو په واسطه اداره کید. پلازمېنه یې د بګرام ښار او په جنوب کې د ارغنداب تر حوزې پورې رسید. د هېواد پواخنۍ لوی حکومتونه وو چې لومړي یې په لویدیځ کې د ساسانیانو په وړاندې د هېواد ساتنه وکړه او ورسته یې بیا له عربو څخه د افغانستان خپلواکي ساتله. شمالي حکومت چې د افغانستان په تاریخ کې په ډېرو ځایونو کې د (تګین شاهي) په نوم یاد شوی دی، لکه د کابلستان د حکومت په شان یې بودایي دین منلی و. نامتو چینایي نړۍ ګرځیدونکی (هیوان تسنګ) د اوومې میلادي پیړۍ په لومړۍ نیمایي (۶۳۰ میلادي) کې د افغانستان له شمال څخه تر ختیځ پورې ګرځیدلی و. هغه د خپلې لارې په اوږدو کې له بلخ. کندز. بامیان او کاپیسا څخه نیولې تر لغمان او ګندهارا پورې یوزرو دوسوه دیرش بودایي مزدکونه. له اته زره څخه زیات بودایي راهبان. لس شیوایي مزدکونه (په کاپیسا کې) او په کندهار کې سل برهمني مزدکونه لیدلي و. په داسې حال کې چې د نوموړي د تګلارې څخه بهر په نورو ځایونو کې هم ګڼ شمیر نور مزدکونه او راهبان ول. چینایي زایرد تخارستان د لوی خان (تاردوشاد) او د هغه د ځای ناستي میلمه پالنه هم یادوي. په هغه مهال کې د افغانستان په شمال. ختیز او څه نا څه په جنوب کې بودایي، برهمني. شیوایي او د لمر نمانځنې مذهبونه وو. ډېر پخوانی دین یعنې زرتښت د هېواد په لویدیځ کې دود و. د سیاست له پلوه د هېواد شمال یو تګین شاهي حکومت و. خو د هېواد ختیځ کې کاپیسایي حکومت و. حال دا چې لویدځ د ایراني ساسانیانو تر واك لاندې و. له دې پرته د هېواد په ځینو نورو ګوټونو کې یو شمیر کوچني سیمه ییز امیران واکمن وو چې اوس یې هم یو څه مسکوکات موندل شوي دي. د چین د تانګ های دولت په اوومه پیړۍ کې د کاشغرستان سیمه ونیوه او خپل واك تر سیحون او د هېواد شمالي ولایتونو پورې ورساوه. خو دغې واکمنې د اسلام تر خپریدو پورې د تګین شاهي د حکومت واکمنې ته زیان و نه رساو. د وخت په تیریدو سره د نویو راغلو ترکانو ګډ مذهب او ګډو ګټو له سیمه ییزو خلکو سره د هغوی ګډ ژوند ته لاره هواره کړه او په پای کې یو واحد ملت ور څخه جوړ شو. د اسلام له خپریدو وروسته دغه یووالی نور هم داسې کلك شو چې نور نو له دیني پلوه د هېواد د بیلا بیلو طایفو سره بیلول ناشوني و.

# شپږم څپرکی

## د عربو واکمني او د افغانستان د خلکو پاڅونونه او مبارزه
### (له اوومې میلادي پېړۍ څخه تر نیمې پېړۍ پورې)

## لومړی
## د اسلام راتګ

### د اسلام راتګ

د میلادي اوومې پېړۍ تر پیل پورې د عربستان زیات شمیر خلکو د عربستان په لړ اوبولرونکو او بې وښو دښتو کې قبیلوي ژوند درلود. هغه مهال سوریاني عربان د بیزانس تابع وو، خو د فرات د ناوې عربان د ایران د ساساني دولت تابع وو، له دې امله چې عرب شتمن خلک وو، او د عربستان په ښارونو کې سوداګرۍ ښه ځلا درلوده. د مکې ښار د خپل شاوخوا سیمو سوداګریز او اقتصادي مرکزو چې د مصر او شام سوداګریز کاروانونه به د عربستان له ښارونو څخه تیریدل. له دغو کاروانونو سره بیلا بېل نوي وګړي او نوي نوي فکرونه په تګ- راتګ کې وو. مکه چې د عربستان تر ټولو ستر مذهبي مرکز و، مهم تجارتي مرکز هم ګڼل کېده. د بیت المقدس او شام، عمان او یمن، روم او حبشې سوداګري او سوداګرو له مکې سره سوداګریز کارو بار درلود. رختونه، قیمتي ډبرې او نور بیلا بیل شیان په همدې لاره واردیدل او صادریدل. دغو ټولو لاملونو د مکې د ښار په ځلا او د نور عربي ښارونو په پرمختګ اغیزه درلوده. ددغه ښار د اوسیدونکو پوهه ورځ په ورځ زیاتیده او د یهودو او نصارا وو له عقایدو او معنویت څخه خبریدل. په داسې حال کې چې په کعبه کې د عربو د بیلا بیلو قبایلو ۳۲۰ بتان اېښودل شوي وو او خلک په باطل پرستي بوخت وو.

د قریشو قبیله چې د مکې د ښار په مذهبي او اقتصادي مدیریت بوخته وه. تل به یې دا اړتیا احساسوله چې اداري نظم او مرکزیت پیاوړی کړي دا ځکه چې د کلیو او ښارونو ترمنځ کلک تضاد او د ژوند د کچې ډېر زیات توپیر ته یې کتل. له بلې خوا د ایران او روم له خوا د وسله وال تیري ویره هم ورسره وه. ددې ترڅنګ د قبیلوي شخړو مخنیوی هغه بل لامل و چې باید عربي متمرکز دولت جوړ شوی

وای هر پښو تل د سوداګرېزو لارو امنیت، اداري نظم او د ملکي مرکزي والي غوښت، تر څو سوداګري ګټه ورته ورسېږي او د دوی هغه ګټې له لاسه و نه وځي چې د هند د سمندر او د روم د سیندونو ترمنځ د سوداګرۍ له امله دوی ته په لاس ورغلې. عربي قبایلو جنګي او ادبي استعداد، د خپلواکۍ مینه لرله او دې ته چمتو وو چې د خپل هېواد، طبیعي اقتصاد له بدې ورځې خلاصون و مومي، په تېره بیا کله به چې دوی د خپلو ګاونډیو یعنې ایران او روم د ښارونو له تجمل او پر تمین ژوند څخه خبرېدل او بیا به یې دې ته چې یې عرب په علومو کې هیڅ پوهه نه لرله، یوازې د نجومو او زاړه طب، بوټي پېژندنه او بیطارۍ په برخه کې یې ډېر معلومات له بابلیانو څخه زده کړي وو نو دې خبرې ته خورول. د دوی طب د او دعا، سوځول، د غریبو پېرو ګول او لږ شمېر درمل او مشروبات وو همدارنګه دوی په فال کتلو، بوټکو او جادو باندې عقیده درلوده، خو بدایه ژبه، ښه وینا، علم او علم انساب یې لرل. له بلې خواد عربستان دوو خواوو ته د نړۍ دوه ستري امپراتورۍ یعنې ایران او ختیز روم و چې دواړه خپل وړاندې تګ څخه پاتې شوې وو او اوس بېرته مخ په خوړ وو. ساساني ایران چې له افغانستان څخه تر فرات پورې او له قفقاز څخه تر پاریس سمندرګي پورې واکمني چلوله. د چین سوداګري یې له هند سمندر څخه تر روم پورې په واک کې وه چې د سوداګرېزو مالیاتو له سرچینې څخه پوره بډای و. د ساساني دولت پلازمېنه (تیسفون) د هنرونو په برخه کې ښه پوره پرمختګ کړی و. د ایران اوبدلو او فلز کارۍ پراخه نوم درلود. د مخابراتو (ډاک) او چاپار سامان یې ډېر منظم و. آن دا چې د مصنوعي اوبو لګولو وسایل یې درلودل. خو له دې ټولو سره سره په ایران کې د مستبد دربار تجمل او ډېرو لګښتونو د خلکو ملا د مالیاتو تر درانه بار لاندې ماته کړې وه. کله چې درېیم یزد ګرد د عرب، د لښکر له یرغل څخه مخ په افغانستان را وتښتېد، زر تنه آشپزان، زر سندر غاړي، دوه زره باز ساتونکي او ښکاریان له هغه سره وو. زورور فیوډالان د لا زیات واک د تر لاسه کولو په خاطر وار په وار له مرکز څخه لرې کېدل او د پاچا په ضد وو. همدوی د دوهم خسرو تر مړینې وروسته د څلورو کلونو په ترځ کې د ولس پاچایان پر تخت کېنول او بېرته یې لرې کړل. تر څو چې درېیم یزدګرد واک ته ورسول شو

د ایران د هغه مهال په ټولنه کې واکمني په دوو پښو ولاړه وه یوه یې وېښې او بله یې ځمکوالي ټولنیزه طبقه بندي او ویش دومره ژوره وه چې هیڅ وګړی لوړې طبقې یا بلې ډلې پورې نښتو ترل کېدای. مذهبي زور او تعصب خلک ترلي وو. چا به چې سرغړونه وکړه له حقونو څخه یې بې برخې کېده. اشرافیت میراثي او قانوني بڼه درلوده. دولتي لوړ مقامات ټول په میراثي بڼه یوازې یو څو د ګوتو په شمار کورنیو پورې ترلي وو

ممتاز پاټکي یعنې شهزاده ګان، امیران، لوی فیوډالان او لوی روحانیون د میراثي ځمکو او جایدادونو لرونکي وو او د مالیې له ورکولو څخه معاف وو. نظامي افسران، مامورین او ملکي منشیان د خلکو پر اوږو سپاره وو او دوهمه درجه اشراف د کلیو مشران وو. ځمکوال د نجباوو ټیټه طبقه وه (په تاریخ کې د دهقان په نوم یاد شوي) همدوی مالیات ورکول. د دوی ټولو تر پښو لاندې په کلیو او ښارونو کې د ملت خلک (بزګران او پېشه وران) وو. بزګر د ځمکې یوه برخه کښل کېده چې په ځمکوال پورې یې اړه

درلوده. ښوونې او روزنې یواځې ممتازې طبقې پورې اړه درلوده. د قضا امر د پاچا او روحانیو په لاس کې و (سزاګانې ډېرې درنې او ویروونکې وې او بندیخانې ډېرې ویروونکې وې) په دې ډول شرایطو کې د پنځمې پېړۍ په پای کې مزدک پیدا شو. هغه یو ډول لومړنی اشتراکیت ټولنې ته وړ وپېژاند. خوارو او محرومو خلکو د هغه ډېر کلک ملاتړ وکړ. خو حاکمه طبقې (پاچا انوشیروان) په ۵۲۹ کې وکولای شول، چې د مزدک د هغه له شعار (تساوی احوال) سره یو ځای له منځه یوسي. کله چې ساساني دولت د افغانستان د یفتلي دولت له جګړو څخه په بریالي ډول راووت. د سوریې او ارمنستان د نیولو په خاطر یې له روم او بیزانس سره جګړې وکړې. د شپږمې پېړۍ او د اوومې پېړۍ په پیل کې یې دغه دواړه دولتونه له ښنو وغورځول. له بلې خوا سره له دې چې ساساني ایران کوم مهم علوم نه درلودل. په طب کې یې څه نه لرل. صرف د لوښو جوړولو، مسکوکاتو، ګچ تونډلو او ودانۍ جوړولو پرمختګ کړی و موسیقي یې درلوده. کرنه و پیشه وري هم ښه وه. په تېره بیا ترکاني، ښنګري او اوبدلو پرمختګ کړی و. سوداګري پراخه شوې وه او د سرو او سپینو زرو مسکوکات دود وو. ښارونه ودان. او سوداګریزې لارې مخ په ختیځ او لویدیځ پرانیستې وې

د عربستان شمال ته د ختیز روم امپراتوري غوړېدلې وه چې د اروپا د زاړه تمدن وروستی میراث وه. اروپا لا مخکې د جرمن او هون قبایلو د یرغل (په څلورمه او پنځمه پېړۍ کې) له امله له ښنو غورځیدلې وه او د روم د ا امپراتورۍ له ړنګېدو څخه وروسته چې د مرتیتوب نظام یې هم ور سره له منځه ولاړ. د ښاري ژوند لرونکی شوه، په اروپا کې صنعت، سوداګري و فرهنګ مخ په خوړ شول مسیحي شوي اروپایي ملتونه په خپلو کې د فیوډالي حکومتونو و د کلیساګانو تر زور زیاتې لاندې وو او مسیحیت د تعصب یو دیوال د ترقي په وړاندې هسک کړی و. مسیحي اروپا له هماغې څلورمې میلادي پېړۍ راهیسې د یونان له پوهې سره مخالفه وه او ددوی په ټولنو کې جهل او خرافاتو حکومت کاو. د همدې پېړۍ په پای کې د کارتاژ دیني شورا له عیسوي مذهب څخه پرته د نورو آثارو لوستل تحریم کړی و. په پنځمه میلادي پېړۍ کې د قسطنطنیې دیني شورا اسقف نسطور او د کلسا نسطوریان (چې عیسوي دین یې د یونان فلسفې سره پخلا کړی و) ټول د ختیز روم د امپراتورۍ له پلازمېنې څخه وشړل. په شپږمه میلادي پېړۍ کې د ختیځ روم امپراتور (ژوستنین) د آتن پوهنتون وتاړه او عیسوي ملایانو به د پوستکو پرمخ زاړه کتابونه. دعاګانې او موهوم وردونه لیکل. په نه توګه اروپا د منځنیو پېړیو په یوه اوږده او ژور خوب ویده شوې وه.

خو د ختیز روم امپراتوري چې د اروپا په جنوب شرق، کوچنۍ آسیا او د افریقا په شمال ختیځ کې په واک کې وه. د زاړه روم د امپراتورۍ له هماغه پیل څخه په ۳۹۵ میلادي کې په دوو ختیزه او لویدیزه برخو وویشل شوه، چې ختیزه برخه یې د لویدیزې په پرتله ځواکمنه وه. پراخ فرهنګ یې درلود، شتمن اقتصاد. لوی ښارونه او د صنعت او د سوداګرۍ لرونکې وه. ددې ټولو په سر کې پرتمینه او لویه قسطنطنیه وه. په دغه دوره کې ودانۍ جوړول پر مخ تللي و چې د سنت صوفي کلیسا یې یوه بېلګه ده. همدارنګه د قسطنطنیې ډېر لوی ډګرونه او ودانۍ نامتو وې. ختیز روم هم دو چې او هم د سمندر له

لارې له ختیزو هېوادونو سره پراخه سوداګري درلوده. د چین، افغانستان، ماوراالنهر، ایران، هند، عربستان او حبشې مالونه د هغوی بازارونو ته ورتلل. په خپله په ختیز روم کې رختونه، ښیښه یې لوښي او وریښم تولیدېدل (له شېږمې پېړۍ راهیسې). د بیزانس سوداګرو د اروپا لوړو طبقو ښکلي شیان چمتو کول ګمرکي عواید و او د غلې- دانې د سوداګرۍ انحصار د هغه مهال دولت نوره هم غښتلې کړې و. له همدې امله د ختیز روم پولو او د پولو ساتونکو پوځونو د کېږدۍ لرونکې قبایلو د یرغل مخه نیولای شوه او د دوی پولې له بالکان له ټاپووزمې تر کوچنۍ آسیا او سوریې او فلسطین، مصر او مدیترانې د تر ختیزو ټاپوګانو پورې ډاډمنې ساتل کېدې. آن دا چې په همدې شپږمه پېړۍ کې امپراتور ژورستنین د افریقې په شمال کې د (واندال) سیمه او په ایټالیا کې د (کوت) او د آسپانیا په جنوب کې د لویدیزو کوتیانو سیمې ونیولې او په دې توګه د مدیترانې واکمن هم شو. له بلې خوا د امپراتور ډېره زیاته خپلسري او استبداد ددې لامل شو چې خلک نظام او اداره کې برخه وانخلي او دغه امپراتور د مرئیتوب نظام پر مخ بیوه. هغه د لښکر ایستلو لګښتونه چې نیول شوي سیمي به یې لوټ کولې، په هېواد کې دننه په خلکو د مالیاتو د زیاتېدو لامل هم کېدل چې پایله یې بېوزلي او د خلکو بدمرغي وه، تر څو چې د خلکو کرکه د دولت پرضد د وګړنیزو پاڅونونو په بڼه را څرګنده شوه. په یوه پاڅون کې چې د خلکو له خوا په ۵۳۲ میلادي کې په قسطنطنیه کې وشو دېرش زره پاڅون کوونکي ووژل شول همدارنګه په سوریه، مصر او فلسطین کې خلکو پاڅونونه وکړل چې په زور سره د حکومت له خوا وځپل شول خو ناراضه ولایتونه لا هم د مناسب فرصت په تمه وو. دا وخت لمباردانو د بیزانس د امپراتورۍ له واکمنۍ څخه ایټالیا خپلواکه کړه. په دې توګه د ختیز روم امپراتورۍ، هغه برسیرن پرتم چې درلود، په دننه کې له ړنګېدو سره مخامخ و. قسطنطنیه له فرهنګي پلوه هم د یوه مذهبي مستخدم بڼه غوره کړه (چې هغه مهال د نړۍ علمي مرکز ګڼل کېد) او په هغې کې د مذهبي موضوعاتو د تفسیر او تعبیر پر سر لانجې ددې لامل شوې چې نورې مهمې ټولنیزې پېښې بېخي هېرې شي. د ختیز روم او د ایران د دولتونو همدا فساد ددې لامل شو چې د عربو نوی پیدا شوی ملت پر دواړو یرغل وکړي او له ۶۳۳ میلادي څخه تر ۶۵۱ پورې د ۱۸ کلونو په ترځ کې د ایران ټوله شهنشاهي ونیسي او سوریه، فلسطین او مصر د روم له شهنشاهي څخه را جلا کړي.

ددغه ډول ټولنیزو کورنیو او بهرنیو شرایطو په دننه کې، د مسیحي اومې پېړۍ په پیل کې په عربو کې د اسلام دین اعلام شو. دغه دین د لسو کالو په ترځ کې قریشو ومانه او ورسته نورو عربي قبایلو هم و مانه او ملاتړ یې وکړ. دا څکه چې د اسلام دین ددغه قوم مادي غوښتنې بشپړولې او دوی ټولو ته یې واحد دین، واحد مرکز، عمومي امنیت او ملي خپلواکي ورکوله. له دې پرته ددغه بېوزله هېواد د نفوسو ورخ په ورخ زیاتولای. چې عمومي اقتصاد یې له سپکاوي ډک و، چې د کلمة الله د کلمې د اعتلا تر شعار لاندې د لرغونې نړۍ د پرتمینو او شتمنو امپراتوریو په لوري د نویو سیمو د نیولو او غنیمتونو د ټولولو په منظور یې رهبري کوله. د اسلام دین کولای شول چې د بېلا بېلو امتونو ترمنځ یووالی راولي، خپل پیروان یې د اسلامي تعالیمو په سیوري کې او د ټاکل شوی (مقدر) مرګ د عقیدې

له مخې، نه ماتېدونکی لښکر ته ورکول چې دغې عقیدې او تعالیمو د اطاعت او انقیاد له روح سره تړلتیا درلوده. ددغه ډول یوه لښکر دنده د معلومې نړۍ نیول و چې اجر یې ویاړونه او په ژوند کې د غنیمتونو ټولول او له مړینې وروسته وعده ورکړل شوې جنت و. عربو په ټولنه کې د خپل ژوند، سیاست، قضا، حکومت او آن د تفکر او معیشت مدار همدا دین وټاکه چې په پایله کې یې یوه سوبمنه او کلکه ټولنه را منځته شوه. البته هر دین په خپل وخت او زمان کې نوي نوي سازمانونه را منځته کړي. تورات د اسلام د دین له راتګ څخه دوه زره کاله مخکې داسې مقررات او احکام را وړل چې په هغو کې د وګړو حقوقو، د مالکیت اندازه، کورنۍ، د جرم دود او جزا ټاکل شوي وو. همدارنګه مسیحیت د مرئیتوب د ډېرې کلکې دورې پر مهال د بېوزلې د دردونو د پټې ایښودلو او د مرئیانو د ناخوالو د داد کېرنې په خاطر د تجمل او شتمنۍ په وړاندې تسلیمي او محبت اعلام کړ. په هر حال، موسوي دین زیاتره پر دنیوي اړخ او عیسوي دین زیاتره پر معنوي اړخ ډده لګوله. په داسې حال کې چې اسلام دواړه، هم دنیوي او هم معنوي یو بل سره وتړل. همدا و چې په یوه لاس کې قرآن او په بل کې یې توره وه. سره له دې چې عربو د خپلې واکمنۍ په دننه کې د عربي ژبې په تعمیم کې فشار نه و راوړی او په توره یې ډده نه لګوله. خو کله یې چې معنوي فرهنګ تر لاسه کړ او ژبې او ادب یې پرمختګ وکړ، نو د عربي ژبې خپرېدل آسانه شول. عربي ژبه په اسلامي هېوادو کې په دفترونو او ادارو کې دود شوه. په داسې حال کې چې عربو به د اوومې پېړۍ تر وروستیو پورې د چارو د تر سره کولو لپاره سیمه ییز منشیان مقررول چې د سیمې ژبه یې په کارول کېده. اسلام په خپلو تعالیمو سره د زړې نړۍ په وړاندې یو مبارزه کوونکی دین و. زوړ نظام یې له منځه یووړ او د دولت د واکونو پولې یې. داسې وټاکلې چې په خپله لومړۍ پېړۍ دوران کې یې اسلامي دیموکراسي د مرئیتوب په دوره کې د یونان د ښاري دیموکراسۍ څخه امتیاز درلود

## د اسلام پیغمبر او څلورګوني خلفا

د اسلام حضرت پیغمبر چې په ۵۷۰ مسیحي کال وزیږید او په ۶۱۰ کال یې د اسلام دین څرګند کړ، تر ۶۳۲ میلادي پورې، یې د دیرشو کلونو په ترڅ کې په بېلا بېلو جګړو سره (چې ډېرې نامتو یې بدر، احد، خیبر او ذومته الجندل او د حدیبې او تبوک مصالحات وو) یې د عربستان بېلا بېلې برخې ونیولې او بیا یې د شام خواته لښکر ولېږ. همدارنګه د اسلام پیغمبر د ختیز روم، ایران و حبشې پاچاهان او د یمامه بحرین او غساني امرا په لیکلې بڼه د اسلام د دین منلو ته را وبلل او په خپله یې چې په ۶۲۲ میلادي کې مدینې ته هجرت کړی و په ۶۳۱ کې یې د مکې نامتو ښار ونیو او د اسلامي دولت مرکزیت یې هلته جوړ کړ او په ۶۳۲ کې رحلت و فرمایه. د پیغمبر خای ناستي (څلور راشده، خلفا (امیر المومنین ابوبکر صدیق، عمر ابن الخطاب، عثمان غني او علي ابن ابي طالب) له ۶۳۲ څخه تر ۶۲۱ میلادي پورې د دیرشو کلونو په ترڅ کې د بیزانس د امپراتورې آسیایي قلمرو تر دمشق، شام او مصر پورې او شمالي افریقایي تر قرطاجنه دروازې او همدارنګه عراق او ایران یې د افغانستان تر پولو

Scanned by CamScanner

پورې ونیول، په نړۍ کې يې د اسلامي سترې شهنشاهي بنسټ کېښودو. د دغه خواکمن دولت خانګړتیا تر دې وخت پورې دا وه: په چارو کې له لویانو سره مشوره، د دربار ساده والی، د قرآن او پیغمبر د سنتو پر بنسټ په خبره او عمل کې تقوا، د اسلام د قانون په وړاندې مساوات او په نړۍ کې د اسلام د اصولو د ډادمن کیدو په خاطر جهاد، خود عربي دولت د دغه خانګړتیاوې څخه تر ډېرو پورې پاتې نه شوې چې

## امویان

د امویانو پراخه شهنشاهي په ۶۶۱ میلادي کال کې د اسلامي راشده خلفا وو ځای ونیو او تر ۷۵۰میلادي پورې يې دوام وکړ په دغه موده کې چې ۱۴ تنو اموي پاچاهانو سلطنت وکړ، ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي شرایطو بدلون وموند. په ۶۶۱- ۶۶۲ میلادي کلونو کې اموي دولت د افغانستان په شمال لویدیز کې د نیشاپور او هرات له ولایتونو څخه د بلخ په لوري ولاړ. په لویدیځ او جنوب کې يې د کرمان او سیستان او مکران ولایتونه ونیول او د سند کوزې برخې ته يې هم ګام کېښود. په ۶۷۴ کې يې مخ په بخارا پوځونه ولیږل او په ۷۱۱ میلادي کې يې ماورالنهر ونیو. اموي لښکرو تر ۶۹۳ پورې له قرطاجنه څخه د اتلانتیک د سمندر تر غاړو پورې پرمختګ وکړ. په ۷۱۰ کې د اروپا غاړو ته ور ورسیدل. په ۷۱۲ کې يې د تولیدو ښارونیو او د ګوتیک دولت يې له منځه یووړ. له هغه څخه وروسته يې تر ۷۳۲ کال پورې د فرانسې جنوبي پولو ته لښکر ولیږ. مخکې له دې څخه يې تر ۷۰۰ میلادي کال پورې د سیسیل او ساردني ټاپوګان او د ارضروم ښار نیولی و او آن دا چې د ختیز روم د امپراتورې پلازمینه قسطنطنیه يې هم یو ځل کلابنده کړې وه. نو په دې توګه د اموي شهنشاهي پولې له ختیځ څخه تر لویدیځ د سند له سمندر څخه د اتلس تر سمندر پورې رسیدلې، چې دا په خپل مهال کې د نړۍ تر ټولو لوی دولت و. دغه لوی دولت له خپل پیدایښت څخه نیولی بیا تر له منځه تلو پورې د افغانستان دولت سره په جګړه کې و، خو بیا يې هم ونشو کولای چې ټول افغانستان و نیسي د افغانستان خلکو په دغه ټوله موده کې له خپل نظام او سیاست څخه ساتنه کوله او په پای کې يې و کولای شول چې د دغې سترې شهنشاهي په له منځه وړلو کې برخه واخلي او عباسي دولت د هغو پر ځای راولي

د امویانو دورې د راشده خلفا وو له دوران سره زیات توپیر درلود. په دې معنا چې د خلفا وو په دوران کې په عمومي توګه د عربو د ژوند او اقتصاد شرایط څه نا څه متوازن و او طبقاتي توپیرونه ډېر ژور نه وو. حال دا چې د امویانو پر مهال، کله چې بډایو او پر مختللو هېوادونو باندې واک تر لاسه شو. سوداګري پر مخ ولاړه، پیسي را ټولې شوې. شتمنې زیاته شوه، نو د ځمکوالو او سوداګرو توپیر له بزګرانو، مریانو او نورو خواریکښو خلکو سره ډېر زیات شو. همدارنګه اموي دوره (د عمر ابن عبدالعزیز له دورې پرته) کې د عربي او نژادي تعصب له مخې نور تابع کړل شوي ملتونه سپک ګڼل کیدل او له حقوقو او مساواتو څخه بې برخې کیدل لویو سوبو، اموي دولت نور هم کبرجن او له تاو تریخوالي څخه ډک او زیات ثروت

دوی عیاش او تجملي کړل له اسلامي قانون څخه سر غړونه وشوه او هغه پاچاهي چې د راشده خلفاوو پر مهال انتخابي وه، میراثي شوه. ساده اسلامي دربار، لکه د رومیانو د دربارونو په شان د دبدبې لرونکی شول. د دولت چارې ټولنې یواځې شاهي کورنۍ، د هغوی خپلوانو، ښځمنو او په پای کې یواځې عربانو ته ځانګړې شوې وې. متعصبو عربانو او متعصبو امویانو په دغه دوره کې، عرب نژاد د عربو ژبې او قرآن او عالي اخلاقو له مخې، د نړۍ تر ټولو ملتونو لوړ ګاڼه. نو ځکه حاکم، قاضي او امام په ټوله امپراتورۍ کې د عرب، له نژاد څخه و. هغه عرب به چې مور یې عربه نه وه (هجین) یعنې نیمګړی عرب بلل کېده. ددغو تبعیضاتو او امتیازاتو له امله اموي دولت د نورو تابع کړل شویو ملتونو پر ضد و. نو ځکه د خلکو له مقاومت سره مخامخ کېدل. اموي دولت د سمون او اصلاح پر ځای، نور هم تاو تریخوالي او زور ته دوام ورکاو. په دې توګه ډول ډول کړاوونه او سزاګانې لکه مثله (د محکوم د غړو پرې کول) او نورې سزاګانې یې معمول ګرځولې وې او ویروونکې بندیخانې یې جوړې کړې وې. اموي دولت د مخالفینو سرونه پرې کول او د چاپار په واسطه یې له لرې لرې سیمو څخه پلازمېنې (دمشق) ته لېږل. دوی د افغانستان د ساتونکو له سرونو سره هم همداسې وکړل. په دې توګه د مخالفت او ضد زړی په خپله په اموي رژیم کې خواک موند. وار په وار د محرومو او مظلومو خلکو په شمیر کې زیاتوالی راته. په پای کې له یوې پېړۍ څخه په لږ موده کې دغه خواکمن دولت له پښو ولوید. خو دوی پسې وروسته بل راتلونکي دولت (عباسیانو) پنځه سوه کاله عمر وکړ.

په هر حال، اموي دولت یو سوبمن دولت و چې په دې دوره کې عربي ژبه او اسلام په نړۍ کې ډېرو ځایو کې خپاره شول او دا د جګړو او جهاد دوره بلل کېدای شي چې د اموي دورې په پای ته رسیدلو سره د اسلام پراخه سوبې هم ودریدې. په دغه دوره کې د عربو د ټولنې علماء زیاتره د قرآن او حدیثو په تفسیر او په فقه بوخت وو او له پخوانیو نورو علومو سره یې اړیکې نه وې. دغو نویو فتوحاتو او سوبو عربان د نورو ملتونو له ادیانو، فلسفې، علومو، هنر او تمدن سره آشنا کړل چې په راتلونکي کې یې د یوه ګډ تمدن د را منځته کېدو لاره هواره کړه.

په اموي دوره کې د بازنتیني (د صلیب لرونکي تنبې سکې) او ایراني سکې (چې اور تون پکې انځور شوی و) پر ځای نوی اسلامي سکې کونده شوې. اسلامي سکې د سرو زرو دینارونه، د سپینو زرو درهم او مفرغي فلس وې. درهم او دینار په لویو ښارونو کې او فلس په سیمه ییزو ښارونو کې کونده کېدې. یو دینار، د نن ورځې دیوه پونډ د شپږ مې برخې شپږ نویمه برخه دروند والی درلود. درهم تردې هم سپک و چې د یوه دینار له شلمې برخې سره کچ کېد. خو د سپینو زرو کچ مېچ تل په بدلون کې و. په افغانستان او ایران کې درهم د پیسو واحد بلل کېد. په لسمه پېړۍ کې په افغانستان کې د سرو زرو دینار یو مثقال او د سپینو زرو له شلو درهمو سره برابر و. د افغانستان درې نیم دینارونه له دریو مغربي (مصري) دینارونو سره برابر و. عربو په دغه دره کې په دولتي چارو کې له ایران څخه، په مدني چارو کې له بیزانس څخه او په اوبدلو او نساجي کې له مصر څخه ډېر څه اخیستي، او د هغو په لاره روان وو په اوومه پېړۍ کې د عربو کلتور نور هم بډای شو او ژبې او ادب یې ترقي وکړه، آن دا چې د اوومې

Scanned by CamScanner

پیړۍ په پای کې یې د اسلامي هېوادونو په دفترونو او ادارو کې رواج و موندهٔ. حال دا چې مخکې له هغه څخه دا سې سیمه ییز منشیان ټاکل کېدل چې په لویدیځ او ختیځ کې به په سیمه ییزو ژبو پوهېدل دا د عربانو یوه تاریخي ځانګړتیا وه چې له نورو ملتونو سره له ګډېدو سره سره او د ډېرو سوبو سره سره یې خپل ملي دودونه نه دي هېر کړي. حال دا چې یو شمېر نورو لکه جرمنیان. سوبمنو مغلو او نورو په اروپا او آسیا کې خپل ملي دودونه پرېښې دي

## عباسي دولت

د خلکو پاڅونو او د نیول شویو هېوادونو ګډوډیو، اموي دولت له پښو وغورځاوه. وروسته تر هغه چې د افغانستان خلکو د ابو مسلم خراساني په مشرتوب د اموي امپراتورۍ تغر ور ټول کړ او عباسي دولت را منځته شو ۳۷ تنه عباسیان د پنځو پېړیو په ترځ کې له ۷۵۰ څخه تر ۱۲۵۸ پورې د اسلامي خلافت په سر کې وو. خو عباسي دولت نور یو عربي دولت نه، بلکې یو بین الاسلامي دولت و چې په هغه کې د افغانستان، ایران، ماورالنهر، ترکانو او نورو ملتونو څېرو ډېره اغیزه درلوده. په تیره بیا افغاني څېرو لکه ابو مسلم خراساني چې عباسیانو ته یې سیاسي واک هم تر لاسه کړی و. د برمکي بلخي او سهیل سرخبسي کورنیو هم ډېر کلونه د دغه دولت په اداره کې برخه لرله او په افغانستان کې د نیول شویو سیمو او مفتوحه ولایتونو حکومت په خپله د افغاني څېرو په لاس کې و. دا وخت د خلافت پلازمېنه له دمشق څخه بغداد ته را ولیږدول شوه. تاریخ لیکونکی لومړنی عباسي دولت یو خراساني دولت بولي، نه عربي

په هر حال؛ عباسي دولت څه نا څه اویا کاله نور هم په افغانستان خپل واک وساته، وروسته تر څو چې افغانستان خپله خپلواکي اعلان کړه. د هڅوب او کلتور د غوړېدو له مخې عباسي دولت د اسلام په تاریخ کې او د نړۍ پر مخ یوه ځلانده دوره وه، هغه د نړۍ د لرغوني کلتور مینه وال و او د هر ملت د علماوو او د هر مذهب درناوی یې کاوه پرته د سیاسي مخالفینو څخه. عباسي دربار د نړۍ د دیني او فلسفي مناظرو لپاره یو ډېر غوره ځای و. سره له دې چې د نهمې پیړۍ له نیمایي وروسته د فلسفي مناظرو دغه نسبي آزادي د بغداد په دربار کې له منځه ولاړه. په سیاست کې هم عباسي دولت د اموي په پرتله معتدل و. پرته له عربو نور خلک (عجم) یې د دولت په اداره کې هم په پلازمېنه او هم په نورو حکومتي ادارو کې را ګډ کړل او له تابع کړخول شویو ملتونو سره یې د اموي دولت په شان کلک چلند نه کاو، خو په پای کې کورنیو بې اتفاقیو او د نیول شویو سیمو د خلکو پاڅونونو د عباسي دولت پښې سستې کړې، ترڅو چې د مغولو یرغل وروستی ګوزار ورکړ.

# دوهم
# په افغانستان کې د عربو واکمني
## د راشده خلفا وو پر مهال (له ۶۴۲ څخه تر ۶۶۱ پورې)

په اوومه پیړۍ کې چې کله له افغانستان سره د عربو اړیکې او تصادم واقع شو، د افغانستان خلک له اقتصادي پلوه د عربو په پرتله د یوې پرمختللې کرنې او اوبو لګولو او پیشه وري خاوندان وو. ښارونه اباد وو او له هندوستان سره د سوداګرۍ لاره له افغانستان څخه تیریده، ایران، چین او مرکزي آسیا ته ورتله د کابلشاهانو دولت د دغې لارې واک په لاس کې درلود. په ښارونو کې د پیسو دوران سوداګري آسانه کړې وه. د افغانستان د بیلابیلو سیمه ییزو حکومتونو سکې په بازارونو کې چلیدې

د هغه مهال افغانستان د خپل فرهنګ له پلوه په ریاضي، نجومو، طب او الهیاتو کې ډیر پرمختګ کړی و او له هندي فلسفې او له ساساني او یوناني علومو سره آشنا و. د هغه مهال په افغانستان کې خروشتي، برهمي او یوناني لیکدود په کار وړل کید او د هېواد په سراسر کې د زرتشتي، بودایي، شیوایي او میترا لمانځنې مزدکونه او د هغو روحانیون موجودو چې روحانیون د خپل وخت د پوهې مرکزونه ګڼل کیدل. ادبیاتو مذهبي بڼه درلوده او ګڼو مذاهبو او عقیدو ته درناوی کید. خو له ټولنیز پلوه د هغه مهال افغانستان ګډوډو یعنې هېواد د یوه مرکزي دولت لرونکی نه و. ټول هېواد په څو سیمه ییزو حکومتونو ویشل شوی و او دغو حکومتونو د خپلو ګټو او واکمنۍ د ساتلو په خاطر، خلک یو بل څخه جلا ساتل له دې سره یو ځای په هېواد کې بیلا بیل ادیان او مذهبونه وو (لکه زرتښتي، بودایي، شیوایي او نورې طریقې) چې دې خبرې هم زمونږ خلک یو بل څخه جلا کول چینایي زایر هیواتسنګ د عربو له راتګ څخه یو اخې څو کاله مخکې افغانستان کتلی و، چې یواځې یې له شمال څخه مخ په ختیځ په خپله تګلاره کې ۱۲۲۰ مزدکونه او له اته زرو څخه زیات روحیانون لیدلی و یواځې دا نه، بلکې په کاپیسا کې یې د (سونا) د رب النوع پیروان او روحانیون هم لیدلی وو چې نیم لوڅ ځانونه یې په ایرو لړلي او د ککریو د هډوکو امیلونه یې په لاسو کې و و دغه مذهبي او اداري ډول خلک سره جلا کړي وو، په ملوك الطوايفي او فیوډالي رژیم کې طبقاتي توپیر وار په وار زور کید. عربي جغرافیه لیکونکو د هغه مهال افغانستان کې د اوولسو سیمه ییزو حکومتونو (چې هر یوه خان ته پاچا وایه) یادونه کړې وه، چې نومونه یې دا وو:

(کنار) د نیشاپور پاچا، (ماهویه) د مرو ملك، (زاذویه) د سرخس ملك، (بهمنه) د ابیو د ملك؛ (ابراز) د نسا ملك، (براز بنده) د غرجستان ملك، (کیلان) د مروا الرود (مرغاب) ملك، (فیروز) دزابلستان پاچا، (کابلشاه)، (ترند شاه)، (شیر بامیان)، (خداة) د جوزجان پاچا، (خسرو) د خوارزم ملك، (زنبیل) د

سجستان ملك، رخج داور، «برازن» د هرات بادغیس او پوشنګ ملك، «مکرانشاه»، «فیقانشاه»، «بلوچستان» او «قشمیرانشاه»، دا په داسې حال کې چې لویو حکومتونو لکه کابلشاهانو «د رتبیل د لقب لرونکي» او د تخار تګینشهانو خپلې د واکمنۍ سیمې د ۳۰ کوچنیو خانانو په لاس اداره کولې «چې د هرې یوې په سر کې یو خان و - ژ». دغو خانانو په خپلو سیمو ولکه درلوده. نو په دې توګه شتمني راټولیدله. د بیلګې په توګه د سیستان د ایالت د سیمه ییز امیر رستم زوی دومره شتمني ټوله کړې وه چې په ۲۵۲ کې یې، عرب یرغل کوونکي سردار ربیع ته د سولې کولو په خاطر زر مرئیان او زر د سرو زرو جامونه ورکړل. په دې ډول سره د لویو فیوډالونو د طبقې او د آرامه روحانیونو د قشر په وړاندې د بزګرانو طبقه وه چې کار او زیار یې ډیر زیات، خو حاصل یې لږ په برخه و. ددغو دوو طبقو ترمنځ، د ځمکوالو منځنۍ طبقه وه چې هغه وخت د «دهقان» په نوم یادیدل. په دغه ډول ټولنیز او سیاسي چاپیریال کې افغانستان د لومړي ځل لپاره د عربو له سوبمن لښکر سره مخامخ شو. په افغانستان کې د عرب د «وروري او برابري» شعار د خلکو د بیلا بیلو طبقاتو له خوا له بیلا بیلو غبرګونونو سره مخامخ شو. په دې معنا چې فیوډالانو د عربو راتګ او د هغوی بشپړ واك د خپلې واکمنۍ د له منځته تګ لامل باله او دوی خپلې ګټې له ګواښ سره مخامخ لیدلې. نو ځکه د خپلو سیمه ییزو حکومتونو د ساتنې غوښتونکي وو. خو کومو ځایونو کې چې عربو بیرته سیمه ییز حکومت د دوی واك کې ور پرېښود، هغه ځایو کې ورته تسلیم کیدل او باج ورکولو ته تیاریدل. همدارنګه د هیواد د بیلابیلو مذهبونو روحانیونو په افغانستان کې د اسلام د دین خپریدل د خپل ځان له منځه تګ سره برابر ګڼل. خو د ملت اکثریت «بزګرانو» چې کله د «وروري او برابري» تر نوم لاندې د نوي دین شعار او په ایران کې د هغوی د نه منلو وړ د سوبې خبرونه واوریدل، د منلو او نه منلو او د یقین او شك ترمنځ وو. د دوی په وړاندې له یوې خوا هغه پخواني منل شوي دینونه وو چې پیړۍ پیړۍ ورسره آشنا و. نو له هغو څخه نوي نا آشنا دین ته اوښتل څه آسانه نه و. له بلې خوا د دوی ټولنیز ژوند چې له پیړیو پیړیو راهیسې د بیلا بیلو طبقاتو پر ګټو روان و او ټولنه یې په دوو ډلو یعنې رعیت او راعي باندې ویشله، راعي یې فیوډالان او خانان ول چې د رعیت نسب، مال او واك ور سره و. او دا بله ډله یې خپل خادمان ګڼل. خو دغې ډلې دا اوریدل چې عرب او اسلام ټولنیز مساوات راولي. افسر او افراد په یو ځای ډوډۍ خوري او په یوه صف کې به لمونځ کوي او مرئییان به هم افسرۍ ته رسیږي. نو په دې توګه د افغانستان خلك له یوې خوا خپلو پخوانیو معنویاتو سره تړلتیا او لرغوني آیین سره مینې او له بلې خوا د دوی مادي اړتیا وو او هغه نظم ته پاملرنه چې عربو ځان سره راوړله په کش او ګیر کې اچولي وو، چې د عربو په وړاندې د دفاع په خاطر یې د انتظار حالت کې پرېښي وو. دغه حالت د راشده خلفاوو له مهال راهیسې چې په ۲۴۲ کې یې پر افغانستان لومړنی یرغل کړی و، بیا د امویانو تر یرغل «۲۲۲» پورې شل کاله دوام وموند. په دغه موه کې عربان د ساساني یزد ګرد نیولو او څارولو تر نوم لاندې، د طبسین له لارې «چې عرب، د خراسان دروازه بلله» افغانستان ته را ننوتل. عربانو ایران په دولسو کالو کې نیولی و، شل کلاه نور د افغانستان د شمالي او لویدیځو ولایتونو په نیولو کې بوخت پاتې شول. افغانستان کې د عربانو

Scanned by CamScanner

برمختګ تر زیاته بریده ددوی د تدبیر ښه پایله وه. دا څکه چې دوی د خپلواکۍ د جذبې په ورانديې د دین تضمین وراندې کاو او دا هماغه څه و چې روحانیون یې له دفاعي حالت څخه را ایستل همدارنګه عربانو د خراج په ورکولو سره ملوك الطوایفي په خپلو خایونو کې په خپل حال پرېښوده او دغه کړنه له سیمه ییزو امراوو سره د توافق په ترلاسه کولو کې ډېره اغیز منه وه. خلکو هم دا وخت و موند چې د اسلام له شعارونو سره یو ځای د عربو کړه وړه له نږدې څخه وګوري. دا ددې لامل شول چې د عربو لښکر په ۲۴۳ کې له طبسین څخه مروې ته را واوښتل او یزدګرد یې د ماورالنهر د ترکي خان له مرستندوي لښکر سره یو ځای له جیحون څخه پورې غاړې ته وخغلاو دوی تر نسا، کرمان، سیستان او مکران پورې پوځونه ولیږل. خو دا یرغلونه ټول د لنډې مودې وو اصلي یرغل په ۲۵۱ کې د قفقاز او افریقې تر نیولو وروسته پیل شو د عربو لښکرو لومړی ابر شهر (نیشاپور) د هغه ځای له سیمه ییز امیر څخه ونیو او هغه یې د عسکري راس الحرکت په توګه غوره کړ وروسته یې د ابیورد او سرخس له سیمه ییزو واکمنو سره روغه جوړه وکړه. بیا د هرات او مرو وار را ورسید عربو په ۲۵۲کال کې د هرات له امیر سره د یو میلیون درهمو د ورکړې په بدل کې او په هر کال کې د درې سوه زرو درهمو خراج په منلو روغه وکړه او خپله لاره یې د افغانستان د شمالي ولایتونو په لوري سیخه کړه (سوري ماهویه د هرات تیمني طایفه وه) د مرو سیمه ییز واکمن هم د یوې دوستانه ژمنې له مخې ځان عربو. ته تسلیم کړ. دا وخت لا هم یزدګرد په بلخ او تخارستان کې هلې ځلې کولې او د چین له دولت او د تخارستان له خلکو څخه یې مرسته غوښتله، خو هیچا د هغه ملاتړ ونه کړ

د عربو لښکر د هغه د څغلولو په خاطر له هرات، مرغاب او جوز جان څخه مخ په بلخ ورغی ددغو پېښو په ترځ کې که کومه جګړه پېښه شوې وه، د لنډې مودې جګړه به وه.نور د عربو د لارې په ترځ کې زیاتره سیمې د خپلو عقایدو په ساتنې او د سیمه ییز حکومت په واك کې د پاتې کیدو په شرط له عربو سره سولې ته حاضر شول. د بېلګې په توګه کله چې په ۲۵۲ کال کې د عربو یو سردار (احنف) له هرات سره تر روغې جوړې وروسته مخ په بلخ ورغی هلته د سیمه ییز واکمن (بازان) له لښکرو سره د مرو الرود (مرغاب) په سیمه کې مخامخ شو. بازان خپل ورور (ماهك) له یوه لیك او ژبارونکي سره ور ولیږ، په لیك کې احنف ته داسې لیکل شوي و:

((نیکه مې نامتو او وژونکی جګړه مار چې دغه سیمې یې په خپل واك کې نیولې وې، که ته روغه جوړه غواړې، نو باید زما د واکمنۍ سیمه (اقطاع) وپیژنې او زما کورنۍ د باج له اخیستو معاف کړې، نو زه به شپیته زره درهمه د خراج په توګه درکړم))

د عربو سردار دا ډول ځواب ورکړ:

(ستا غوښتنه منم په تا او ستا پر کورنۍ خراج نشته، خو مسلمینو سره مرسته پر تاسو ټولو لازمه ده، که مسلمان شوی وای پوره دریغ او نفقه به دې تر لاسه کړې وه او له ما او نورو مسلمانانو سره به یو شان شوی وې- یکشنبه ۳۲هجري کال د محرم میاشت د احنف او د عربو د پنځو نورو سردارانو مهر

دغه دوه لیکونه چې طبري هغه د امم والملوك د تاریخ په پېنځم ټوك کې راوړي دي، د هغه مهال په

Scanned by CamScanner

سیمان کې د عربو د چلند ډېره ښه ښودنه کوي، له بلې خوا د افغانستان د فیوډالانو هغه سیاست ور درجه ډېر ښه څرګندېږي چې دوی د بهرنیو په وړاندې ور څخه کار اخیست فیوډال تر هغه پورې دفاع کوي تر څو چې دده شخصي ګټه په خطر کې وي. خو که بهرنی د هغه ګټې تضمین کړي، هغه ته بیاد هېواد ساتنه دوهمه درجه اهمیت پیدا کوي او له یرغلګر خواك سره روغه جوړه کوي په سیستان کې هم پر همدې کال همدا کانه وشوه. ربیع د عربو یرغل کوونکی سردار کله چې له (ایران بن رستم) سیه ییز واکمن سره ډېر لږ جګړه وکړه، روغې جوړې ته حاضر شو د روغې جوړې جرګه د زرنج د ښار په دړې میله واټن کې او د جګړې پر میدان جوړه شوه ربیع چې لوړه دنګه ونه، توره سوځېدلې څېره، غټې شونډې اولوی لوی غاښونه لرل، د مړیو پر ککریو ولاړ و دا مهال ایران د ښار څو مخورو سره را ورسید او د جرګې ځای ته نژدې له آس څخه را کوز شو ایران چې ربیع حارثي په دغه ښه ولید، خپلو ملګرو ته یې ویل وایي چې په ورځ کې دښمن نه تر سترګو کېږي، خو دادی (ربیع ته یې ګوته ونیوله) ښکاري د ربیع ژباړونکي د ایران خبرې ورته وژباړلې، د عربو سردار یواځې و خندل او بس. هغه د روغې جوړې په زر د سروزرو جامونه او زر مرئییان وټاکل ایران همدا و منل او عربو ته یې مخ په نورو سیمو لاره پرانیسته. د راشده خلفا او لښکر د شلو کلونو په ترځ کې وکولای شول چې ددغې سیاسي او نظامي لارې په کار اچولو سره د نیشاپور (اوسني خراسان ایالت)، مرو، هرات، مروالرود، جوزجان او بلخ د افغانستان په شمال کې. کرمان او سیستان په لویدیځ کې او بلوچستان او کندهار (الرخاج یا رخد) په جنوب کې څه نا څه ونیسي او تر واك لاندې یې راولي دوی یو ځل بیا **۲۵۵** کې د غزنې له لارې (د کابلستان له رتبیل سره) جګړه او بیا یې بیرته روغه وکړه. په همدغه موده کې په کرمان کې د (سیرجان ښار د عربو مرکز شو. کاریز وکیندل شو او د (ارجان) جومات جوړ کړل شو په بلوچستان کې د عربو لښکر تر قیقان (کیکان) پورې ورسید په سیستان کې ډلې ډلې زردشتیان مسلمانان شول، دا ځکه چې د اسلام یو شمیر لوی لوی فقهي علما له عرب افسر عبدالرحمن سمره سره یو ځای سیستان ته راغلل دوی د اسلام د دین د پېژندنې دنده درلوده همدارنګه یو شمیر عربي خوارج د مهاجرو په توګه هلته میشت شول چې د دوی انقلابي اسلامي افکارو هلته ریښې و ځغلولې. په کندهار (زمینداور) کې د زوړ معبد د لمر له رب النوع سره یو ځای ونړول شو په زابلستان او کابلستان کې لومړی ځل عرب عسکر ولیدل شول او د اسلام کلمه واورېدل شوه. د افغانستان په شمالي ولایتونو کې له هرات څخه تر بلخ پورې عربان پرته له کومې جګړې پر مخ ولاړل، خو په مرغاب کې کلکې جګړې سره مخامخ شول همدا مهال (۲۵۲ میلادي کې)، ساساني یزدګرد په مرو کې د هغه ځای د سیمه ییز واکمن ماهوریه سورې په لاس ووژل شو یو کال وروسته هراتي (قارن) په نیشاپور کې د عربو پر مرکز یرغل وکړ هغه یې ونیو، خو په یوه شپه باندې یو عربي افسر (عبد الله) ور باندې وار ړومبی او هغه یې مړ کړ. په دې توګه د شلو کلونو په ترځ کې له افغانستان سره د عربو ټکر پای ته ورسید او د امویانو د استقرار دوره پیل شوه، چې د هغې له پیل څخه بیا د افغانانو په لاس د هغو تر پرځول کیدو پورې نوي کلونه تیر شول.

# دریم
# د اموي دولت په دوره کې په افغانستان باندې د عربو واکمني او د هېواد د خلکو پاڅونونه
## (له ۶۶۱ څخه تر ۷۴۶ میلادي پورې)

ننده خلفا وو د دیرش کلن دولت له ړنګیدو څخه وروسته، په ۶۶۱ کال کې په دمشق کې اموي دولت جوړ شو چې اشرافي او نظامي بڼه یې درلوده. د اموي دولت لومړنی واکمن قیس نیشاپور ته ورسید. امیر معاویه د اموي دولت لومړني پاچا د یوه نظامي دارودنکي سیاست په سیوري کې د نړۍ نیولو هوډ درلود. افغانستان ته د حکم غفاري په نوم یو څوک را ولیږل شو. حکم د المهلب په واسطه په غزني لښکر وروست خو د خلکو په لاس مات شو او بیرته په شا ولاړ. بیا وروسته حکم غفاري مروې ته یو لښکر ولیږ او د ماورالنهر د بیخي نیولو هڅه یې وکړه. له دې وروسته اموي افسرانو هر یوه یو په بل پسې، په ټوله نیمه پیړۍ کې د بخارا، خوارزم او فرغانې ولایتونه ونیول. دا مهال به ماورالنهر کې خمکوالو طبقه چې د «دهقان» په نوم یادیدل واکمن وا و سیمه ییزې چارې یې په لاس کې وې. دوی په ډیرو پخو او کلکو کلاوو کې ژوند کاو او په جګړه کې ډیر تکړه ول او د ځمکو اشرافیت ور پورې اړه درلوده. د دوی تر څنګ یو بل د سوداګرو پیسه لرونکی اشرافیت هم و چې دواړه یو موټی ول. په ۶۷۰ میلادي کال کې د عربو پنځوس زره عسکر له خپلو کډو سره د زبیع بن زیاد تر مشرۍ لاندې دلته راغلل او تر بلخ پورې ورسیدل. په شمال ولایتونو کې د دغه پنځوس زرو عسکرو میشت کیدل د دې لامل شول چې خلک دوی سره زیات و پیژني او خپلوي ورسره وکړي او دغه لامل د اسلام د دین په خپریدو کې ډیره مرسته وکړه. په هر حال، عرب واکمن یو په بل پسې تلل او راتلل. خو ویې نشو کولای کوم غوڅ بریالیتوب تر لاسه کړي. داځکه چې ورو ورو د اموي واکمنو ظالمانه چلند خلکو ته ښکاره کید. هغوی په وینو تویولو او دمالونو په را ټولولو کې بیساري وو او په دې برخه کې یې ژمنې هم ماتولې. دوی د خپل واک بنسټ په زور او حکم چلولو درولی و. اموي دولت د هېوادونو په نیولو کې پرته له ښکیلاک او د پیسو له تر لاسه کولو، د سیمې نورو ټولنیزو چارو ته پاملرنه نه کوله. اموي واکمنو په نیول شویو سیمو کې له مسلمانانو شویو وګړو څخه درانه مالیات او له اهل زمه څخه جزییه ټولوله. هر واکمن به د خپلې واکمنۍ پر مهال، چې ډیر ژر ژر به تیریدله، خپلې زیرمې ډکولې، په دې توګه هم خلک او ولسونه او هم لرې کړل شوي اشراف ورو ورو له اموي واکمنو څخه متنفر او مرور شول او ورو ورو د افغانستان خلک دفاع ته پاڅیدل. په سیاسي، نظامي او آن مذهبي برخو کې یې جګړه پیل کړه او اویا کاله یې د

اموي ډېرې څواکمنې واکمنۍ په وړاندې جګړه وکړه. تر څو یې چې دغه لوی دولت له پښو وغورځاو اموي دولت هم په افغانستان کې په خپل بریالیتوب او نه بریالیتوب پوهید. نو ځکه یې ډېره پاملرنه کوله په ۶۹۱ میلادي کې چې کله عربان په ماوراالنهر کې بوخت وو او خلیفه مروان په دمشق کې مړ شو. په مرو کې عبد الله خازم د هغه ځای عربي حاکم. د هغه مهال د خراسان په پلازمېنه کې د خپلواکۍ اعلان وکړ او په خپل نوم یې سکه کوټله کړه. خو اموي دولت هغه د یوه عربي سیال (بکیر و شاح) په لاس په جګړه کې له منځه یوړ. د خراسان خلکو په قبیلوي سیالیو کې د عربو له بوختیا څخه دومره ګټه اوچته کړه چې ویې کولای شول یو ځل بیا د بکیر شاح په لاس خپلواکي اعلان کړي چې دغه خبره په خپل په عربو کې د اوږدې جګړې لامل شوه. چې دغه جګړه تر ۶۹۲ پورې وغځیده. په پای کې بکیرو شاح ووژل شو او د هغه پر ځای (امیه) کېنوست. خو هغه هم له خپل ټول پوځ سره د بلخ په جګړه کې له ماتې سره مخامخ شو. یوازې دومره یې و کولای شول چې ځان یې ژوندی مروې پورې ورساوه. دا ځل د مشق د عربو تر ټولو لوی سردار (قتیبه) وروسته تر ۷۰۳ میلادي کال څخه افغانستان ته را ولیږ. هغه د بلخ له سیمه ییز پاچا (سپهبد) سره لومړی جګړه وکړه او بیا یې ور سره روغه جوړه وکړه او په ۷۰۷ کې یې بلخ ونیو. د همدغو جګړو په ترځ کې د بلخ نامتو ښار ویجاړ شو چې وروسته په ۷۲۵ کې بیرته د خلکو او د بلخ د مخورو په لاس بیرته و رغول شو. د بادغیس سیمه ییز امیر (نیزک) له قتیبه سره تر روغې جوړې وروسته له مروې څخه بلخ ته راغی او د لومړي ځل لپاره یې د عربو پر ضد د افغانستان د شمال د ملك الطوایفو یوه ټولنه جوړه کړه چې په هغې کې د مرو الرود امیر بازان، د تخارستان پاچا جغبویه. د بلخ سپهبد او د جوزجان او فاریاب امیران سره یو موټی شوي وو. په دې ترځ کې زنبیل یا زنتبیل او یا هم د یو شمیر اسلامي تاریخ لیکونکو په وینا د کابلستان رتبیل هم ژمنه وکړه چې که چیرې دغه اتحادیه ماتې سره مخامخ شي، نو کابلستان به دوی ته پنا ورکړي. هغوی د جګړې لپاره اړتیاوې چمتو کولې او له تخارستان څخه یې د عربو استازی وشاړه چې دا مهال قتیبه په خپله پر مرغاب یرغل وکړ او ورور یې عبدالرحمن له دولسو زرو عسکرو سره پر بلخ یرغل وکړ. له سوبې وروسته یې د مرو الرود ټول هغه عسکر چې د جګړې په ترځ کې یې نیولي وو، د څلورو فرسخ په واټن کې ټول ووژل ټول نیزك او جغبویه له بلخ څخه سمنګان ته ولاړل. قتیبه وروسته تر څو جګړو په چل سره سوله وکړه او د ژمنې برخلاف یې دواړه د خبرو پر مهال ونیول او د ګرز کلایې ونیوله، وروسته یې دولس زره ساتونکی ټول ووژل او د نیزك او جغبویه سرونه یې دمشق ته ولیږل. د جوزجان، شومان او فاریاب خلکو جګړه پیل کړه. قتیبه تر بریالیتوب وروسته فاریاب وسوځاو چې د عربو له خوا د (محترقه) په نوم و نومول شو. قتیبه په ۷۱۴ میلادي کې نوی اموي خلیفه سلیمان لرې او د خپل امارت خپلواکي یې اعلان کړه او د خلکو په وړاندې د یوې وینا په ترځ کې یې د مور له خوا هغوی ته ځان خراساني ور وپیژاند. خو خلکو و نه مانه. دده پر ځای یې دده سیال (وکیع) سره مرسته وکړه او د دوی دواړو ترمنځ جګړه ونښته او خلکو د حیان خراساني په مشرتوب د وکیع پلوي وکړه. په پای کې قتیبه له خپلې کورنۍ سره یو ځای ووژل شو. وروسته بیا عربو یان هم مسموم کړ (په زهرو یې مړ کړ). وروسته

تر دې پېښې خلکو د عباسي کورنۍ مبلغین د اموي دولت پر ضد په غېږ کې ونیول په ۷۲۴ میلادي کې د عربو یو بل نامتو افسر (اسد) د قتیبه پر ځای کیناست هغه مخ په غرجستان لښکر ولیږ چې هلته سیمه ییز امیر (نمرون) وروسته تر جګړې سوله وکړه او بیا وروسته مسلمان شو. خو اسد له هغو یرغلونو څخه د پام وړ پایله تر لاسه نه کړه چې د تخارستان په ولایت کې یې ترسره کړل. ورسته یې لس زره نور عسکر هم هلته ولیږل. خو بیا هم پریکنده پایلې ته و نه رسید. خو په ۷۳۷ کې په بلخ کې د خمکوالو او اعیانو په ګډون یو شمېر خلکو د اسلام دین ومانه. او پنځه کاله وروسته یې په بلخ کې یو جومات جوړ کړ. دا مهال یواځې په شمالي افغانستان کې د عربو عسکرو شمېر ۵۴ زره تنو ته رسید. په دې توګه له بصرې څخه نهه زره. له بکر څخه اوه زره. د عبدالقیس له قوم څخه څلور زره او د ازد له قوم څخه لس زره تنه. له کوفې څخه اوه زره او د عجمو له آزادو شویو څخه هم اوه زره تنه وو

عربانو په افغانستان کې په دریو محاذونو کې جګړه کوله. شمالي افغانستان چې د راشده خلفاوو پر مهال یې نظامي او اداري مرکز نیشاپور او د اموي دولت پر مهال یې مرکز د مروې ښار و. غربي افغانستان چې مرکز یې په سیستان کې د زرنج ښارو. جنوب ختیځ افغانستان (بلوچستان او د سند کوزه حوزه) چې تاکلی مرکز یې نه درلود او په وروستیو کې بیا عربي حاکم تمیم بن زیدد منصورې ښار د سند په لویدیځ کې جوړ او د دې سیمې مرکز یې کړ. د افغانستان د فرمان ورکولو عمومي مرکز په عراق کې د کوفې ښارو. خو ځینې وخت په سیده توګه له دمشق څخه هم هدایات صادریدل

په هر حال: په لویدیز محاذ کې ربیع حارثي اموي حاکم په ۶۶۷ کې په کندهار کې د کابلستان د رتبیل سره په جګړه اخته شو چې بریالی نه شو په ۶۷۱ کې عرب حاکم عباد له سیستان څخه مخ په کابل لښکر ولیږل. خو رتبیل یې په کندهار کې مخه ونیوه او پرې یې نښود چې وړاندې ولاړ شي په ۶۸۱ کې عربي افسرانو هر یو یزید او بوعبیده له سیستان څخه مخ په کابل مارش وکړ. د کابل د خلکو لښکر په نیمایي لاره کې ورسره مخام شو او د یوې کلکې جګړې په ترڅ کې یې عرب اردو تباه کړ، یزید یې وواژه او بوعبیده یې بندي کړ. خو عبیده په دې و توانید چې د نیم میلیون فدیې په ورکولو ځان خلاص کړي یو کال وروسته عبدالعزیز د سیستان نوي والي د یزید او بوعبیده د ماتې د بیرته جبران کولو په خاطر مخ پر کابل لښکر وکیښ خو د یرې کلکې ماتې سره مخامخ شو په ۶۹۱ میلادي کې عرب حاکم عبد الله له سیستان څخه له کابلشاه سره د جګړې په نیت (بست) ته ورسید. کابلشاه په یوه غرنۍ سیمه کې هغه کلا بند کړ او بیا یې ماتې سره مخامخ کړ. عبد الله دري سوه زره درهمه فدیه ورکړه او ځان یې خلاص کړ

په ۶۹۷ میلادي کې د عراق والي او د نیول شوي افغانستان عمومي فرمان ورکوونکی حجاج، عبید الله سیستان ته ولیږ. او هلته یې د کابلستان د نیولو دنده ورته وسپارله. هغه بست ته رسیدلی و چې کابلشاه دفاع ته ودرید او د هماغه پخواني تکتیک په کار اچولو سره یې هغه غرنیو درو کې ښکیل او له څلورو خواوو څخه یې وربانديې زور راوړ او عبد الله د اوه لکو درهمو په ورکولو ځان خلاص کړ. عبد الله بست ته د بیرته ستنیدو په ترڅ کې له ډیرې غوسې او د ماتې له شرم څخه له پښو ولوید. دا خکه چې

Scanned by CamScanner

لویې هېوادونه نیولي وو، خو په افغانستان له کوچنۍ آسیا څخه نیولې د اتلس تر غاړو پورې لوی لوی هېوادونه نیولي وو، خو په افغانستان عربو په نیولو بریالي نه شول حجاج کې له ماتې سره مخامخ وو او د ۲۰ کلنو په ترځ کې د بشپړ افغانستان په نیولو بریالي نه شول حجاج د عبد الله د نیول کیدو د خبر په اوریدو سره خواشینی شو او د دمشق له دربار څخه یې و غوښتل چې د کابلستان د غوڅې سوبې په خاطر دې د کوفې او بصرې ټول لښکر را ولیږل شي. همدا و چې د عربو تر ټولو جګړه مار دولس زره کسیز لښکر یې غوره کړ او د عبد الرحمن بن اشعث تر لارښوونې لاندې یې په ۷۰۰ میلادي کال کې د افغانستان په لوري را روان کړ. دا لښکر دومره سمبال او پرتمین و چې د (حبیش الطواویس) یعنی د طاوس د لښکر نوم ورباندې کیښودل شوی و. حجاج دغه بیساري لښکر ته دوه میلیونه درهم ورکړل د کابل رتبیل په بست کې و او دا هر څه یې څارل. دا وخت د هغه استازی په سیستان کې عبدالرحمن ته ورغی او هغه ته یې د پخوانیو جګړو د هېرولو او خراج د ورکولو خبر ورکړ، خو عبدالرحمن د هغه لوی خواك د لرلو له امله چې ورسره و. ونه منله. رتبیل ګام په ګام د کابل په لوري شاته راتګ کاو او په ټولو هغو کلاوو کې یې چې د لارې په سر باندې وې قیمتي شیان کیښودل چې عربي لښکر یې د غنیمت په توګه تر لاسه کړي. عبدالرحمن ورو ورو رتبیل پسې را روان و او ځان پسې یې د ارتباطي کرښو د ساتلو په خاطر ساتونکی کنډکونه (قطعي) ځای پر ځای کولې. دا خکه چې هغه د افغانستان د خلکو له جګړې کولو څخه خبر و، خو د هغه اردو به چې د لارې په ترځ کې کلاوې اغشتام کړې. دومره د درانه بار لرونکی شوي وو چې د کړندي تګ واك یې له لاسه ورکړ. په سختو لارو کې دغه ورو ورو تګ ژمی را نژدې کړ. نو دا وخت عبد الله اړ شو چې فیصله کوونکی غوځ جنګ پسرلي ته پریږدي او دا کار حجاج نه ورسره مانه. نو خکه یې عبد الرحمن وراته او په لیکلي بڼه یې هغه ډارن وباله او له دندې د لرې کولو ګواښ یې ورته وکړ. عبدالرحمن چې مدبر او زړور سړی و په غوسه شو. هغه د حجاج فرمان د ټول لښکر تر مخې ولوست چې په هند کې داسې اړ ورکړل شوی و چې بې له ځنډه دې په زابل او کابل یرغل وشي. آبادۍ دې ورانې او ښځې او نارینه دې بندیان شي. د عربو سدارانو لکه بوطفیل. عامر او عبدالمومن ربعیي وویل. که لښکر بریالی شي غنایم او مکافات د حجاج دي، خو که مات شي د حجاج په نظر به سپك ادبي همته و بلل شي. حال دا چې دغه هېواد (افغانستان) ستاسې ابدي ګور دی او بیا به د خپلو کورنیو لیدلو ته ورنشئ. په دغه هېواد باندې د حجاج یرغل لکه پر نیل باندې د فرعون د یرغل په شان دی. نو راځئ چې د کابل پر ځای کوفې ته ولاړ شو او حجاج له خپل هېواد څخه وشړو. د عربو لښکر عبدالرحمن ته بیعت وکړ او عبدالرحمن له رتبیل سره ژمنه وکړه چې کابلستان له خراج ورکولو څخه معاف دی، او که عبدالرحمن ماتې وخوړې نو کابل به پنا ورکوي.

له حجاج سره د عبد الله جګړه اوږده شوه او په پای کې عبدالرحمن مغلوب او کابل ته را وتښتید او په ۷۰۳ کې په کابل کې مړ شو او سر یې حجاج ته ور ولیږل شو. له هغه څخه وروسته قتیبه په ۷۰۴ کې د عمر او خپل ورور په واسطه د رتبیل پر ضد یرغلونه وکړل، خو هغه د اته سوه زرو درهمو په ورکولو سره روغه وکړه. په ۷۰۲ کې کابلشاه دوه میلیونه درهمه قتیبه ته ور ولیږل تر څو د کابلستان او عربو ترمنځ جګړه و دریږي. دغه اوربند ۲۳ کاله اوږد شو. خو اصفح شیباني د سیستان عربي حاکم په

۷۲۷ کې یو ځل بیا له کابلستان سره جګړه پیل کړه، خو ډېر کسان یې ووژل شول او بې پایلې بېرته ستون شو. د سیستان خلکو هم د اموي دولت په وړاندې خپل پاڅون پیاوړی کړ او په ۷۲۰ کې یې د عربو پر ضد لوی پاڅون وکړ او په ۷۲۵ کې یې په زرنج کې بشر الحواري عرب امیر شرط (یعنې د امنیې قوماندان) ووژاه او د ښار قضا یې له عرب څخه واخیسته او یوه سیستاني محدث (معمر بن عبد الله) ته یې وسپارله. همدارنګه د سیستان خلکو د خوارجو له فرقې سره یو ځای په ۷۳۴ کې د امویانو پر ضد قیام وکړ. په پای کې په ۷۴۷ کې یې د سیستان عربي حاکم (سوار بن اشعر) ووژه.
خو د افغانستان په جنوب ختیځ محاذ کې د راشده خلفا وو لښکرو چې کله مکران ونیو. په ۲۵۹ کې په بلوچستان کې ترقیقان (کیکانان) پورې پرمخ ولاړل: اموي لښکر په ۲۸۰ کې په بلوچستان کې (قصدار) ونیو او هلته یې د عربو پښې مزبوتې کړې. له همدې ځایه عربې واکمنو تر قندابیل (قنداوه) پورې واک چلاو. همدارنګه عربان یو ځل په ۲۳۵ کې له بحرین څخه په بېړۍ کې د بلوچستان او سند ترمنځ تر (دیبل) ګودر پورې را ورسیدل، خو د عربو نور ستر یرغلونه د حجاج له خوا پیل شول او د هغه لښکر بیا تر دیبل پورې را ورسید. له هغه څخه وروسته حجاج، محمد بن قاسم ثقفي نامتو افسر چې له قتیبه او اسد سره برابر شمیرل کید، له یوه لښکر سره د وچې او سمندر له لارې را ولیږه. ثقفي په ۷۱۱ میلادي کې له شپږ زرو عسکرو او شپږ زرو جمازه سپرو او درې زره بار وړونکو اوښانو سره له شیراز څخه مکران ته را غلل او بیړۍ یې د سمندر له لارې د دیبل ګودر پورې را ورسیدلې. وروسته تر نهه ورځنۍ اوږدې جګړې څخه یې د دیبل مزدك چې پر دورازه یې شین بیرغ رپول شوی و، د هغه منجنیق په واسطه چې ۵۰۰ جوړې وصله هغه د ګوازرونو پر مهال په کار اچاو. والوزاو او دغه مزدك یې ونیو ثقفي د حجاج له امر سره سم خلك ونه بښل او درې ورځې یې عامه وژنه وکړه، ثقفي ۷۰۰ د مزدك خدمه پیغلې نجونې ونیولې او د دیبل د حاکم دوه لورګانې یې له زیات شمیر غنیمتونو سره یو ځای حجاج ته ور ولیږل. له هغه وروسته ثقفي د سند د سیند دا غاړه سیمې تولې یو پر بل پسې څه په جګړه او څه په سوله ونیولې او په خپله بیا له سند څخه پورې وت. د سند سیمه ییز حاکم (داهر) د دفاع هڅه وکړه خو د جګړې په ډګر کې ووژل شو. د هغه سر یې حجاج ته ور ولیږ او د هغه ښځه (لاري) ثقفي ته ور واده شوه. د سند د برهمن آباد خلکو شپږ میاشتې له عربو سره جګړه وکړه، په پای کې ښار ونیول شو او درې زره تنه بندیان شول. د عربو سردار په همدې ځای و نه درید، مخ په ملتان ورغی، د هغه ځای له نیولو وروسته یې ډېر نقد غنیمتونه ونیول. د ملتان له مزدك څخه یې د سرو زرو بت تر لاسه کړ چې دوه سوه او دیرش منه و. له پټو خښو شویو زیرمو څخه یې دیارلس زره او دوه سوه منه سره زر تر لاسه کړل. له یوه بل کور څخه یې دوه میلیونه او څلور سوه زره مثقاله سره زر تر لاسه کړل. د حجاج له مړینې وروسته محمد قاسم ثقفي عراق ته و غوښتل شو او د اموي خلیفه سلیمان په لاس ووژل شو. په ۷۱۳ کې د سند شاو خوا کې د عربو جګړې او سوبې و درول شوې، خو بلوڅان او سندیان څو څو ځله له عرب واکمنو سره و جنګیدل.

Scanned by CamScanner

# څلورم

## د اموي دولت نړېدل او د افغانستان د خلکو د پاڅون بریالیتوب

له ۲۴۲ څه تر ۷۴۲ میلادي پورې چې له یوې پېړۍ څخه د زیاتې مودې په ترځ کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان خلك د عربو په راتګ سره په سیاسي، نظامي او نورو ټولنیزو ډګرونو کې هم په مادي او هم په معنوي توګه په سیده اړیکو کې شول. دغه اړیکې د راکړې ورکړې او د مادي او معنوي اغېزو لامل شوې. په دغه موده کې چې د هېواد درې نسلونه دوی سره په اړیکو کې وو. د افغانستان ملت څه ناڅه د عربو یو څه ذوقونه و منل او له خپلې ژبې سره یو ځای یې د هغوی ژبه او دین هم و منل. د عربانو هم د افغانستان له لرغوني کلتور سره پېژندنه وشوه او دغو دواړو اغېزو د دغه هېواد د راتلونکي اسلامي تمدن په جوړېدو اغېزه وکړه. د افغانستان خلکو ورو ورو اود اسلام د دین د ماهیت په پېژندنې سره هغه و مانه. حال دا چې د توري په زور د دغه دین منلو لومړنی نقش نه درلود. د سلو کلونو په ترځ کې له جیحون څخه د سیستان تر هامون او د ارغنداب له غاړو د سند تر پولو پورې جوماتونه جوړ او مدرسې دومره زیاتې شوې چې په یوه کې یې درې زره زده کوونکو زده کړه کوله. د بېلګې په توګه کله چې په ۷۱۹ میلادي کال په شمالي افغانستان کې ضحاك بن مزاحم هلالي د اسلامي فقهې او تفسیر لوی عالم و مړ. په هغه ورځ نوموړي درې زره د علومو طالبان لرل

په افغانستان کې د اموي دولت واکمني چې د تعصب، تحکم، زور او تبعیض پر بنسټ جوړه شوې وه او په زور سره له خلکو مالیات او غنیمتونه ټولېدل او جګړې او د مرتبیاتو نیول هم ور سره وو، د خلکو د پاڅون لوی لامل و ګرځېدل. تر څو خلك د اموي اداري د ستم، ظلم او استبداد په وړاندې پاڅېږي، خو د دواړو لوریو خواك هېڅکله د پرتله کولو وړ نه وه امویان د نړۍ تر ټولو ځواکمنه امپراتوري او دا خوا یو بې مرکزیته او پاشلي هېواد و چې فیودالي موسسه یې لرله. نو ځکه تېت او پاشان مقاومت او د سیمه ییزو واکمنو قرباني په هر ځل د اموي دولت د ځواکونو په وړاندې بې پایلې وې، خو سره له دې هم عمومي مبارزه په بېلا بېلو ډولونو روانه وه. خلکو به په یوه سیمه کې د عباسیانو د کورنۍ له مبلغینو څخه ملاتړ کاو، په بل ځای کې به یې د خوارجو له فرقې څخه ملاتړ کاو چې بنه امیه او بني هاشم پر ضد و. بل ځای به یې د (خرمیه) د طریقې د بنسټ ایښودونکي (خداش) ملاتړ کاو چې دا ټول د اموي د دستګاه خطرناك دښمنان وو همدارنګه خلکو د عربو د قبایلو ترمنځ له سیالیو او دښمنیو څخه ګټه اوچتوله. لکه یماني او مصري چې یو بل سره مخالف و او د خراسان عربي اداره یې ضعیفه کړې وه نظامي ځیرو به هم چې کله وار و موند توري ته به یې لاس کړ وار په وار اموي دولت د خلکو کرکه را پاروله. دا ځکه چې دوی د مال په را ټولولو، اسراف او تبذیر کې زیاتې کاو. د بېلګې په توګه د دوی

Scanned by CamScanner

یوه واکمن (اشرس) په ۷۲۷ کې په ماوراالنهر کې د سمرقند د مسلمانو شویو خلکو څخه د کفر د وختونو جزیه ټوله کړه، په دې توګه هغوی بیرته له دین څخه سرغړونه وکړه او د ترکانو په مرسته یې عربو سره جګړه پیل کړه. د افغانستان خلکو خلیفه عمر ابن عبد العزیز ته شکایت وکړ چې عربي واکمن متعصب او قوم پالونکی دی. له نویو مسلمانو شویو خلکو هم جزیه غواړي او په بهرنیو جګړو کې مونږ ته غنیمت نه را کوي خلیفه دغه شکایت واورید. قتیبه په افغانستان کې خپلې ډیرې ژمنې تر پښو لاندې کړې، د غلې بیه یې لوړه کړه او خلک یې زندي کړل حجاج چې په ظالم مشهورو په کوفه کې یې د زرګونو مسلمانانو وینې تویې کړې او عبدالله زبیر یې چې خلافت یې په عراق. افغانستان او حجاز کې منل شوی و. له ستونې څخه خوړند او زندي کړ

په هر حال؛ په اسلامي هېوادو کې د اموي دولت چلند ته په کرکې سره کتل کیدل دغه عامه ذهنیت د امویانو پر ضد د پاڅونونو لپاره ښه لامل و له دې پرته دننه په امویانو کې هم قبیلوي اختلافات (په تیره د یمني او قیسي کورنیو ترمنځ شخړې) او د نفاق اورونه بل وو په شاهي کورنۍ کې د خلافت د ولیعهدي او ولایت عهدي پر سر اختلاف او دښمني پیدا شوه موالیان هم د امویانو له عرب پالنې څخه په تنګ شول او د اموي ضد چارو په ترڅ کې یې د دولت د مخالفانو ملاتړ وکړ، د بیلګې په توګه دوی څو ځله د مختار، عبدالرحمن او بن اشعث پلوي وکړه چې د عباسیانو غوښتونکي وو. د افغانستان مسلمانو شویو خلکو ټول دغه شرایط د خپلې خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره ښه موقع و ګڼله او د یو غورځنګ په توګه را پاڅیدل. ددغه غورځنګ مشرتوب د ټولنې له منځ څخه د یوه را پورته شوي لاربنود په غاړه شوه چې د ټولنې اړتیاوې او د شاوخوا هېوادونو وضعیت یې ښه پېژندلی و. هغه ابو مسلم خراساني و

## د ابو مسلم خراساني وګړنیز پاڅون

ابو مسلم عبدالرحمن په ۷۲۰ میلادي کال کې د شمالي افغانستان اوسنی سرپل ښار (پخواني انبار) کې د سفید بخ (سپید دژ) په کلي کې زیږیدلی و زده کړې یې کړې وې، په عربي ژبه او ادب پوهید، منځنی ونه، غنم رنګه څیره او په زړه پورې ښکلې بڼه یې درلوده ژبه یې روانه کلك او خواکمن زړه یې درلود د ژوند په ستونزو کې یې خپل زغم او په خوښیو کې یې خپله خوشالي نه ښکاره کوله ده په ۱۹ کلنۍ کې د سیاست ډګر ته ګام کېښود، نو له دې کبله چې د ولسونو له منځه را پورته شوی و، ویې کولای شول چې د اموي ظالم دولت د درانه بار لاندې د خلکو له کرکې ګټه واخلي هغه مهال نا مسلمانه وګړي د دولت د پر له پسې تیریو لوټ او نظامي یرغلونو څخه بیخي په تنګ شوي وو، مسلمانان ددغه دولت له تبعیض او خپل بې برخې. درنو مالیاتو او د اموي عمالو له ظلمونو په تنګ وو د بني هاشمو یو شمیر کورنۍ په بلخ او د افغانستان په نورو ښارونو کې تبعید شوې وې او د عباس د کورنۍ یو شمیر غړو (د پیغمبر د تره کورنۍ) په کوفه او حجاز کې په پټه ژوند تیراو د عباس لمسي علي د خلیفه عبدالملك له لوري ورټل شو. محمد د همده زوی و چې د اموي دولت پر ضد یې پټ تشکیلات جوړ کړل

Scanned by CamScanner

خو خلکو د اموي دولت له ویر له هغوی څخه ملاتړ نشو کولای. نو محمد د عباسیانو د امام په توګه د افغانستان خوا ته پام واړاو او دلته یې څو تنه مبلغین را ولیږل. هغه افغانستان ته د مبلغینو د رالیږلو پر مهال هغوی ته داسې وویل: د بصرې خلک عثمان پرست دي، له اخ او ډب څخه خان ساتې او وایې چې د خدای بنده چې مقتول وي ښه ده، نه قاتل د جزیرې خلک بهرني او فراري دي، سره له دې چې عرب دي خو رومیانو ته ورته دي، سره له دې چې مسلمانان دي، خو مسیحي اخلاق لري. د شام خلک مونږ سره دښمنان دي او پرته له ال سغیان څخه نور څوك نه پیژني. د مکې او مدینې خلك ابوبکر او عمر غواړي. نو تاسې خپل پام خراسان ته واړوئ چې د هغو میړانه څرګنده ده او زړونو کې یې بیلا بیلې عقیدې او فساد شته. آن دا چې زړونه یې له دین څخه تش دي، هغوی خورول شوي دي د پاخون او غورځنګ استعداد لري او د خلافت بدلون غواړي. هوا خراسانیان څواکمن هېوونه، پلن ټټر او لوی سرونه، ګڼې ږیرې، ویروونکی غږونه لري او زیږې خبرې کوي.[1]

کله چې دغه مبلغین افغانستان ته راتلل، خلکو به د هغوی خبرو ته غوږ نیو او له امویانو په کرکې سره به یې د هغوی ملاتړ کاو. د بیلګې په توګه په ۷۲۰ میلادي کې سعید بن عبدالعزیز د افغانستان اموي حاکم، یو شمیر عباسي مبلغین و موندل او هغوی ټول یې بندیان کړل، خو هغو خلکو چې له یماني او مهاجرو ربعیه قبایلو سره خپلوي درلوده، د هغو په ضمانت بیرته خوشې شول. خو پټ پټ یې بیرته د عباسیانو په پلوي او د امویانو په ضد فعالیتونو ته وهځول. د خوارجو فرقه هم په ۷۳۴ کې په شمالي او لویدیځ افغانستان کې د اموي دولت د مذهبي بېلاریو په وړاندې پاځېدلې وه.

ابو مسلم په دغو ټولو پوهید او غوښتل یې عباسیان چې د اسلام پیغمبر ته ډیر نژدې دي، او اسلامي ملتونو ته ګران وو، د امویانو د را پرځولو لپاره وسیله شي او بیا وروسته عربان له افغانستان څخه و شړي او ملي دولت جوړ کړي. پر دغه مهال د امام محمد متوفی زوی ابراهیم په کوفه کې د عباسیانو د امام په توګه و، نو ابو مسلم په ۷۴۱ کې کوفې ته ورغی او له دغه امام سره یې خبرې وکړې او یو شمیر ژمنې یې سره وکړې، وروسته بیرته افغانستان ته را ستون شو او خان یې د (بني عباسیانو د پلویانو امیر) اعلان کړ. هیڅ شك نشته چې ابو مسلم د دغه سفر پر مهال په عربي هېوادونو او ایران کې د اموي اداري په هکله بشپړ معلومات تر لاسه کړي وو او د خلکو ذهنیت ورته ښه معلوم شوی و. هغه په لږ وخت کې ډیر شمیر محروم او ناراضه طبقات په هرات، پوشنګ، بادغیس، مرو، مرغاب، نسا، ابیورد، توس، سرخس، بلخ، چغانیان، تخارستان، غور، ختلان، کش، نسف او نورو لري- نژدې سیمو کې را ټول کړل چې څه نا څه زر تنه په آسونو او خرو سپاره وو. دا مهال د افغانستان اموي والي نصر بن سیار په مرو کې نه و هغه په کرمان کې له جدیع سره په جګړه بوخت و. ابو مسلم له دې فرصت څخه ګټه اوچته کړه د ۱۲۹ هجري کال د رمضان د میاشتې په پینځمه (۷۴۲ میلادي) یې په مرو کې تور بیرغ وریاو خپله یې تورې جامې واغوستې او د هغو زرګونو تنو په مخ کې چې خپلواکي یې غوښته، ودرید

[1] - استاد احمدامین مصري، صحی الاسلام مؤلف د دریمې هجري پیړۍ له عالم جاحظ څخه اخیستل شوی اخځ

Scanned by CamScanner

او امویان یې خلع او د اسلامي خلافت په سر کې یې د عباسیانو راوستل اعلان کړل. او ځان یې د خراسان شهنشا کړ. د ابو مسلم په آسونو او خرو سپاره او پلي داوطلب اردو بېلا بیلې وسلې درلودې ابو مسلم خپل دغه لښکر سره په ۷۴۷ کې مرو له امویانو څخه پاکه کړه او تر ۷۴۸ پورې یې د افغانستان ټول مسلمان شوي ولایتونه د امویانو له اداري څخه وژغورل. په عین وخت کې د هغه لښکر د قحطبه او خالد بن برمك بلخي په مشرتوب ایران ته ننوت او د جګړو په ترڅ کې یې ګرګان، اصفهان او عراق او جلولا کې د اموي ساتونکی له منځه یو ورل او په ۷۵۰ کې د کوفي ښار ته ورغی. په دغه ځای کې د ابو مسلم له فرمان سره سم د عباسي امام ابراهیم ورونه هر یو عبد الله صفاح او منصور دوانیقي د هغو له پټنځایونو څخه را وویستل شول. لومړنی یې د اسلامي خلافت د مشر په توګه و ټاکه (اموي دولت پخوا له ښوري څخه په دې که توبره کې د امام ابراهیم سر ننه ایستلی و او هغه یې وژلی و). د سفاح وزارت یې یوه ایراني ته چې ابو سلمه جعفر همداني نومید وسپاره. د خلیفه له لوري را لیږل شوي لښکر هم حران ته نږدې د مروان اموي خلیفه ته ماتې ورکړه او په پای کې یې مصر ته د تښتېدو پر لاره د ذات السلاسل په کور کې د شپې له خوا په یوه یرغل کې وواژه او سر یې کوفي ته ابو مسلم ته ولیږل شو وروسته وریسې د امویانو ټوله کورنۍ د عباسیانو له خوا ووژل شوه او په دې توګه د اسلام تاریخ یوې نوې دورې ته ننوت

## خو ابو مسلم په افغانستان کې

کله یې چې مسلمان شوي ولایتونه د عربو له واکه څخه آزاد کړل او ایران یې هم د امویانو له پلویانو څخه پاك کړ. په ۷۵۲ کې یې ماورالنهر ته پام واړاو او د هغه ځای اموي حاکم (زیاد) یې وواژه او په دې توګه یې یو لوی خراساني دولت جوړ کړ چې په خپله یې مشرتوب په غاړه درلود. د افغنستان د خلکو دغه پاڅون چې د نړۍ د یوې لویې امپراتورۍ د نړیدو لامل شو او په منځنۍ آسیا کې یې یو خپلواك اسلامي دولت جوړ کړ، په ټولو هغو هېوادو کې چې د عربو تابع و انګازې وکړې او د نورو ملتونو د خپلواکۍ لپاره یوه بېلګه و ګرځیده. افغانستان په ۷۴۶ کې خپلواك شو (د ابو مسلم په لاس)، اسپانیا په ۷۵۵ کې (د عبدالرحمن په لاس)، مراکش په ۷۸۸ کې (د ادریس په لاس) او په ۸۰۰ کې د افریقا شمالي سیمې او په ۸۷۷ کې شام او مصر هم د (طولون) په لاس خپلواك شول. سره له دې چې عباسي دولت ډیر ژر بیرته د عربو سیاسي واك په افغانستان کې له ابو مسلم څخه وروسته او په مصر او شام کې د طولوني له کورنۍ وروسته تر لاسه کړ، خو افغانستان وروسته تر ۷۰ کالو (د طاهري دولت په جوړیدو) بیرته خپله خپلواکي و ګټله طاهریانو په ۸۱۹ میلادي کې افغانستان خپلواك اعلان کړ او مصر او شام په ۹۳۵ کې د (اخشیدیانو) په لاس خپلواك شو

په هر حال؛ ابو مسلم په ۷۵۳ کې وروسته د کورنیو چارو تر سمبالولو د حج د ادا کولو لپاره او د عباسي خلافت د ځارنې لپاره عراق ته ولاړ چې دا مهال د خلیفه سفاح له خوا ورته هر کلی وویل شو دا مهال عباسي وزارت د ابو سلمه همداني له وژل کیدو وروسته په خالد بن برمك بلخي پورې اړه لرله ابو

Scanned by CamScanner

مسلم د حج له ادا کولو څخه وروسته بیرته را وګرځیده چې خلیفه سفاح مړ شو او منصور دوانیقي د هغه ورور په ابو مسلم پورې ونښت چې له نورو سیالانو څخه خلافت ګډه په ګټه ټینګ کړي. ابو مسلم و منله او د دوانیقي لومړنی سیال عیسی بن موسی ته یې په انبار کې ماتې ورکړه او له عبد الله بن علي بن عباس سره یې پنځه میاشتې جګړه وکړه چې په نصیبین کې یې ځان د خلیفه په توګه اعلان کړی و. هغه ماتې وخوړه او منصور یې پر ځای خلیفه وټاکل شو له هغه وروسته ابو مسلم له منصور څخه کرکه پیدا کړه او له خدای پاماني پرته افغانستان ته راغی. منصور و ویرید او یو شمیر لیکونه یې ابو مسلم ته ولیکل چې بیرته ور وګرځي او په مصر او شام کې حکومتونه تنظیم کړي. د خلیفه استازی ابو حمید مرغابي نومید، هغه په درې کې ابو مسلم سره وکتل او هڅه یې وکړه چې ابو مسلم بیرته وګرځي ابو مسلم و ګرځید او خلیفه ورته هر کلی ووایه. خو ده هیره کړې وه چې ځینې وخت خدعه او فریب لوی ځواک هم ماتولی شي. خلیفه منصور په یوه دروغجن او مصنوعي مرکه کې او په محرمانه توګه د پټو جلادانو په لاس ابو مسلم ټوټه ټوټه کړ او سر یې د دنیارو او درهمو په طبقونو کې د خرساني لښکر مخې کې وشیند. دا پیښه چې د نړۍ د سیاسیونو د اخلاقو یوه بشپړه بېلګه وه د ۱۳۷ هجري د شعبان په ۲۵ مه د چهارشنبې په ورځ (۷۵۴ میلادي) کې واقع شوه. په دې توګه د عربو سیاسي واک یو ځل بیا پر افغانستان خپور شو او اویا کاله یې نور دوام وموند.

# پينځم
# د عباسي دولت په دوره کې د عربو د واکمنې دوام او د افغانستان د خلکو پاڅونونه
## (له ۷۵۴ میلادي څخه تر ۸۲۱ میلادي پورې)

د ابو مسلم له وژل کیدو څخه وروسته، عباسي دولت د افغانستان په هکله یو نوي چلند غوره کړ چې د اموي دولت له چلند سره یې توپیر درلود. هغه دا چې د افغانستان له اشرافو او مخورو سره یې د روغې جوړې او د واکمنې په چارو کې د هڅو د ګډولو لاره ونیوله او دا یې غوښتل چې د هغوی په مرسته په دې هېواد کې خپله واکمنې وساتي، د بېلګې په توګه د ابو مسلم وکیل ابو داود یې په افغانستان کې په خپل پخواني دریځ کې وساته او د خپل دربار له خراسانیانو سره یې په مینه چلند کاو. دغه چلند هم د عباسیانو په ګټه او هم د هېواد د اشرافو په ګټه و، خو سره له دې د ټول ملت وګړو د درنو مالیاتو او د عربو له واکمنې زړه نه و خوشحاله او د ابو مسلم د وژنې غمیزې دوی د عباسي دولت پر ضد ولمسول دغه احساس دومره پیاوړی و چې د دین او مذهب اختلاف هم ددوی ترمنځ خنډ نه شو. د ابو مسلم له وژنې لا پنځه کاله نه و تیر چې د هرات خلکو پاڅون وکړ او یو زردشتي مذهبه د هرات د لویدیځ د هرداني له کلي څخه چې (سندباد) نومید. په ۷۵۹ کې د خلکو لارښوونه په غاړه واخیسته او ځان یې خلکو ته د سپهبد په نوم د ابو مسلم ځای ناستی ور وپېژاند. په داسې حال کې چې زرګونه تنه مسلمانان او زردشتیان دده تر جنډې لاندې را ټول شوي وو، هغه په نیشاپور کې د افغانستان په عربي مرکز یرغل وکړ او د څو جګړو په ترځ کې یې نیشاپور، قومس او ري ونیول او د ابوسلم زیرمې یې بیرته تر لاسه کړې، وروسته تر هغه یې په عراق او حجاز د یرغل هوډ وکړ. د عباسیانو لښکر د همدان او ري ترمنځ دوی سره مخامخ شو او د کلکې جګړې په ترځ کې یې د سند باد مخه و نیوله. ورپسې د عباسي خلیفه مرستندوی لښکر د هغه د زوی مهدي په مشرتوب را ورسید او سند باد ماته وخوړه او طبرستان ته ولاړ، خو د هغه کوربه د طبرستان سپهبد مړ کړ او سر یې د خلیفه دربارته ولیږ.

په ۷۷۲ کې د هرات خلکو د (استاد سیس) په نوم د یوه بادغیسي او د هغه د یو ملګري حریش سیستاني په مشرتوب د عربو پر ضد پاڅون وکړ او اجثم مرو الرودي چې د عباسیانو پلوی و ووژل شو. له هغه څخه وروسته یې د خلیفه له خوا ۲۴ زره را لیږل شوي عسکرو سره جګړه پیل کړه، خو ۱۴ زره هراتیان ونیول شول نو ځکه یې ماتې وخوړه. عربو بندیان ووژل او په خپله سیس یې خلیفه ته ولیږه او هلته ووژل شو. (مرجیله) د همدې استاد سیس لور وه چې وروسته بیا د هارون الرشید ښځه او د مامون رشید مور شوه. له دې څخه وروسته د نیول شوي افغانستان د دهقانانو پاڅون اقتصادي اړخ

Scanned by CamScanner

درلود چې دغه پاڅون د عربو د واك پر ضد له سیاسي پاڅون سره یو ځای شو، دا ځکه چې د عباسي دولت مالیات او عوارض او د فیوډالانو ظلم ورځ په ورځ زیاتید، نو ځکه خلك پاڅون ته اړ شول په ۷۲۷ کې د هرات او سیستان مسلمانو او زردشتي بزګرانو د (آذرویه) تر لارښووني لاندې او د محمد بن شداد تر مشرۍ لاندې د عربو پر ضد پاڅون وکړ. دوی د عباسیانو مامور یزید له منځه یوړ. لږ وروسته په زرنج کې پاڅون وشو او د عباسیانو د حاکم مسرف ګیډه یې ور څیرې کړه. په ۷۷۵ کې حیکم بن عطاي بادغیسي چې د. حکیم مقنع په نوم پیژندل کید په مرو کې د پاڅون کوونکو لارښوونه په غاړه واخیسته او په زرګونه مسلمانان او زردشتیان د (سپید جامګان) تر نامه لاندې د عربو د شړلو په خاطر ورسره شول. مقنع خپله قرار ګاه له جیحون څخه پورې غاړه د سبز د ښار شاو خوا کې وټاکله، د عربو سرداران لکه حسان بن تمیم او محمد بن نصر د مقنع په جګړو کې له منځه لاړل. د دغه پاڅونو لمن له مرو څخه تر تخارستان پورې هم ورسیدله او د نهمې پیړۍ تر پیل پورې، یعنی د خراسان د طاهریانو د دولت تر را بر سیره کیدو (۸۲۱) پورې یې دوام وموند. بغداد له مقنع سره جګړې ته دوام ورکړ او د معاذ بن سلم تر مشرۍ لاندې یې نوي پوځونه د هغه په وړاندې را ولیږل تر څو چې وروسته تر ډیرو جګړو مقنع کلابند شو. ددې لپاره چې د بندیتوب له شرم سره مخامخ نشي، نو خپله کورنۍ او ماشومان یې ووژل او په پای کې یې خان هم مړ کړ. همدا مهال یوسف ابرم هراتي له یو شمیر ملي داو طلبانو سره میمنه، مرغاب او پوشنګ ونیول. دا وخت د شمالي خراسان والي یزید بن مزید له هغه سره جګړه پیل کړه. په یوه جګړه کې انقلابي مشرانو سره یو ځای اعدام شو. د منصور عباسي له مړیني څخه (۷۷۵) تر ۷۸۵ پورې (د مهدي او هادي عباسي د خلافت په دورو کې) د شمالي افغانستان امارت لومړی عبدالملك خراساني او بیا فضل بن سلیمان توسي ته سپارل شوی و، تر څو دوی امنیت وساتي، خو په سیستان کې خلکو له خوارجو سره لاس یو کړ او د سیستان حاکم حمزه بن مالك ډیر په ستونزو سره وکولای شول د هغوی مشر (نوح) له منځه یوسي.

په ۷۸۲ کې د عباسیانو تر ټولو خواکمن خلیفه هارون الرشید د اسلام په خلافت کیناست. هغه بغداد کې یحیی برمکي، د خالد برمکي (د خلیفه منصور دوانقي وزیر) زوی وزیر وټاکه. د افغانستان امارت یې جعفر بن محمد خراساني ته ورکړ. په ۷۹۳ کې یې فضل بن یحیی برمکي افغانستان ته را ولیږ. په دې توګه یې خلکو ته د پاڅون وخت ور نه کړ. فضل برمکي چې کله په افغانستان کې و، ابراهیم بن جبل یې د بودایي کابلشاهانو پلازمینې کاپیسا نیولو ته وګوماره، هغه د غور بند له لارې یرغل وکړ او ددې جګړې په پای کې د بګرام ښار له ټولو بودایي تاریخي آثارو او د نامتو شابهار مزدك سره یو ځای له منځه ولاړ. له همدې امله وروستیو کلونو کې پلازمینه له بګرام څخه، پخواني کابل ښار ته د لوګر سیند ته نژدې ولیږدول شوه، خو کله چې په ۷۹۵ کې علي بن عیسی د خلیفه له خوا افغانستان ته را ولیږل شو. خلکو په بلخ کې پاڅون وکړ. هغوی یحیی د علي زوی وواژه او د علي درې میلیونه شتمنې یې تر لاسه او په خپله علي یې د هیواد لویدیز ته په تللو اړ کړ. د علي بن عیسی د شتمنې زیاتوالي په افغانستان کې د عربو یو ځرګند اجحاف دی. علي د خلکو د غلي کولو لپاره په هرات کې طاهر بن حسین پوشنګي د پوشنګ د حکومت مشر وټاکه چې هغه مهال لکه د هرات په شان ښه ودان ښار و. په

سیستان کې هم عثمان عربي حاکم دا اړتیا ولیدله چې مسلمان شوي سیستانیان د عربو په پوځ کې شامل کړي. هغه په دغه سیاست سره و کولای شول چې د سیستان د پاڅون کوونکو مشر بشر بن مرقد له منځه یوسي. عثمان په کندهار کې هم یو ځل لکه د معن زایده په شان د کابلستان له رتبیل سره یوه بې پایلې جړه وکړه. وروسته ورپسې په سیستان کې د خلکو او حضین سیستاني له پاڅون سره مخامخ شو. هارون الرشید په ۷۹۲ کې د عثمان پر ځای د سیستان یو اشراف (داود بن بشر) د حکومت د مشر په توګه و ټاکه. داود خپل آزادي غوښتونکی هېوادوال حضین د جګړې په ډګر کې وواژه او د خلکو پاڅون یې و ځاپه. عربو دوه ځلې بیا په ۷۹۴ او ۷۹۷ کې سیستان ته د یزید بن جریر په مشرتوب او د عیسی په مشرتوب کابلستان ته لښکر ولیږل. خو هر ځل ناکام شول دا یواځې کابلستان و چې په منځنۍ آسیا کې یې د دوو پیړیو په ترڅ کې د امویانو او عباسیانو د ډیرې ځواکمنې امپراتورۍ په وړاندې مقاومت او ټینګار وکړ.

په ۷۹۹ کې په سیستان کې حمزه د بزګرانو او پیشه ورانو د پاڅون مشر توب په غاړه واخیست او د عربو په وړاندې و دریدل. دوی د سیستان له عربي حاکم عیسی سره جګړې وکړې او سیستان یې آزاد کړ. دا مهال د ماورالنهر خلك هم د عربي حکامو په وړاندې پاڅیدل. سره له دې چې بغداد علي بن عیسی د خراسان ډیر ظالم والي له دندې لرې کړ. خو د خلکو پاڅون غلی نه شو، تر څو چې په خپله خلیفه هارون الرشید اړ شو چې شخصاً د خلکو د پر له پسې پاڅونو د غلي کولو په خاطر خراسان ته سفر وکړي.

دا مهال د علي خزانې په یو نیم زر اوښانو باندې د هارون الرشید حضور ته راوړل شوې. په نیشاپور کې لاد عباسي خلیفه دمه نه وه جوړه چې ناروغ شو او په ۸۰۸ میلادي کې (۱۹۳ هجري) کې ومړ او په توس کې خاورو ته وسپارل شو. عباسي مامون د هارون الرشید زوی د پلار پر ژوند د خراسان والي و او د هغه مهال مرو د خراسان پلازمېنه وه. هغه له خراسان سره مینه درلوده. د پلار تر مړینې وروسته د خراسان د مخورو په مشوره، په تېره بیا د فضل بن سهل سرخسي د خراسان د وزیر په مشوره یې د خراساني اسلامي خلافت د جوړولو هڅه پیل کړه، خو په دې حال کې د هغه ورور امین په بغداد کې د پلار ځای ناستی او د اسلام خلیفه شو. د خلافت وزیر فضل بن ربیع هم له خراسان سره مخالفت درلود، نو هغه نوی خلیفه اړ کړ چې مامون له خراسان څخه بغداد ته ور وغواړي. په ۸۰۹ کې خلیفه دا ډول یو امر صادر کړ، خو مامون و نه مانه. په ۸۱۰ کې د خراسان د پخواني دښمن علي بن عیسی په مشرۍ د بغداد شپیته زره پوځ د افغانستان په لورې را روان شو. له دې لورې څخه د دفاع دنده طاهر پوشنګي ته ور وسپارل شوه. طاهر د ایران په رې کې د عربو لښکر مات او علي یې د جګړې په ډګر کې و واژه او مخ پر بغداد ور روان شو. د همدان په لاره کې د بغداد بل لښکر د عبدالرحمن تر لارښوونې لاندې د طاهر مخې ته راغی. خو د خراسان لښکر هغه ونیو او لښکر یې ورته له ماتې سره مخامخ کړ. طاهر د بغداد بل مرستندوی پوځ هم له منځه یووړ او په خپله تر حلوان پورې وړاندې ولاړ. دا مهال له خراسان څخه د هر ثمه بن اعین په مشرۍ نوی بل پوځ هم طاهر ته را ورسید. دواړه پوځونه په دوو لارو د اهواز او نهران له سیمو څخه مخ په بغداد وړاندې لاړل. طاهر اهواز په جګړې سره ونیو، خو بصره او واسط تسلیم

هر ثمه هم نهروان په جګړې سره ونیو او مخ په بغداد شول. طاهر مداین هم ونیو او بغداد ته ور لنډ شو. هر ثمه هم نهروان په جګړې سره ونیو او مخ په بغداد وړاندې ولاړ. خلیفه امین د دوو لښکر ترمنځ کلا بند شو او د ځان ساتنې ځواك ور ځخه تللی و. هغه له طاهر ځخه هیله وکړه چې لاره ورکړي چې خپل ورور ته خراسان ته ورشي طاهر و نه منله ورته ویې ویل چې باید تسلیم شي. امین په بیړۍ کې سپور شو چې ځان د شپې له خوا د هر ثمه پوځ ته چې عرب و تسلیم او هغه سره پناه واخلي. خو د سمندر په منځ کې د طاهر د سپاهیانو له خوا په نا پیژاند ډول ووژل شو. د هغه په سبا د ۸۱۳ کاله پیل کې د بغداد ښار ونیول شو. په دې توګه د بغداد په ځای د خراسان کې مرو د اسلامي خلافت پلازمېنه شوه. دا د عربو د هیلو برخلاف کار و. نو ځکه ور سره په ضد کې پاځیدل او په دې لټه کې شول چې یو ځل بیا پلازمېنه بغداد ته راوړي. فضل بن سهل چې په ذوالریاستین سره یادید او د مامون د خلافت چارې یې په لاس کې وې. خپل ورر حسن د عراقینو او حجاز والي مقرر کړ او په بغداد کې یې متمرکز کړ او هر ثمه بن اعین چې عرب او د بغداد په نیولو کې یې خدمت کړی و مروې ته ور وغوښت او مړ یې کړ. خو هرثمه لا مخکې مامون د فضل له نیت ځخه خبر کړی و چې غواړي د عباسیانو خلافت د علویانو په خلافت واړوي. په دې توګه د فضل کړو وړو د مامون شك نور هم پیاوړی کاو. فضل مامون اړ کړ چې خپله لور زینبه علی موسي الرضاء ته په ولایت عهدي ورکړي او د عباسیانو تور رنګ چې د دوی شعارو په شنه رنګ چې د علویانو شعارو بدل کړي. فضل نور هم پر مخ ولاړ او یوه ورځ یې په مرو کې یو چاته ویلی و چې په دې دولت کې زما هڅې د ابو مسلم تر هڅو زیاتې دي. هغه سړی ځواب ورکړی و چې ابو مسلم سلطنت له یوې قبیلې ځخه بلې ته ورساو. خو تا دولت فقط له یوه ورور ځخه بل ته ورکړ. فضل وویل که عمر باقي و زه به هم همداسې وکړم. د فضل ورور حسن د فضل په اندازه کفایت نه درلود. هغه تجملي او عیاش سړی و. عربو د هغه په ضد فعالیتونه کول. تر څو چې هغوی په بغداد کې پاځیدل او د مامون تره یې په ۸۱۷ کې د اسلام په خلافت کنیاو او د مامون خلع یې اعلان کړه. دا مهال مامون مخ په بغداد ولاړ. خو فضل و نشو کولای چې د هغه مخه ونیسي. کله چې دوی سرخس ته ورسیدل او فضل په حمام کې لمبل، غالب بن حکم د مامون ماما د خلیفه په امر حمام ته ور ننوت او د جلادانو په لاس یې فضل لکه د ابو مسلم په شان وواژه. کله چې مامون د خراسانیانو له لښکر سره یو ځای بغداد ته ورسید، خپل خلافت یې کلك کړ، تور شعار یې ومانه او عربان یې خوښ کړل. تر دې مهال پورې طاهر پوشنګي د شام چارې ډاډمنې او نصر بن شبیب چې سر یې اخیستی و په لاره کړ او دادی د خلافت دربار ته حاضر شو او د وضعیت په څارنه بوخت و. هغه ته په یاد و چې عباسي سفاح خلیفه په څه ډول ابو مسلم مړ کړ او هارون الرشید په څومره چلونو د برمیکانو کورنۍ له منځه یووړه او دادی اوس مامون عباسي په څه دو که فضل له منځه یووړ. نو ده د خپلې راتلونکې په هکله هم سوچ وکړ. ډیره هڅه یې وکړه چې مامون دې ته اړ کړي چې دی د خراسان په ولایت کې په دنده و ګوماري. مامون چې لا هم د خراسان په لښکر ډډه لګوله او ورته اړ و، دغه وړاندیز یې ومانه. طاهر په ۸۲۰ کې د اسلامي افغانستان والي مقرر شو او ډیر ژر خراسان ته راغی. هغه په ۸۲۱ کې له خطبې ځخه د عباسي خلیفه د نوم په غورځولو سره، د افغانستان خپلواکي اعلان کړه.

## شپږم
## د عربو د واکمنې پرمهال د افغانستان ټولنیز اوضاع

له ۷۴۲ څخه تر ۸۲۲ میلادي کال پورې په افغانستان کې د عربو د نظامي او سیاسي اړیکو ټینګیدو یو سل او اتیا کلونه وخت ونیو په دغه موده کې عربو، د اسلام دین او عربي ژبه افغانستان ته راوړل چې په ډیرو سونږو سره د هېواد په شمالي سیمو او څه نا څه په جنوب او لویدیځ کې څه په جګړه او څه هم په سوله او اقتصادي او ټولنیزو ګډون له لارې ومنل شول ددغو دوو وسلو (ژبې او دین) اغیزه دومره ژوره وه چې آن یو لرغوني هېواد لکه مصر، په یوه عربي هېواد بدل شو. ایران په پیړیو پیړیو هڅه وکړه چې ایله بیرته خپله ژبه او ملیت وساتي په هر حال. افغانستان چې څومره عربي ژبه او د اسلام دین و مانه، هومره یې خپل ریاضیات، نجوم، انشاء او ترسل یې هم د هندوستان له فلسفې او طب سره یو ځای عربو ته ورکړل او په مجموع کې یې د اسلامي تمدن په غوړیدو کې ښه برخه واخیسته داسې چې په دیني علومو، تفسیر، حدیث او فقه، فلسفه، شعر او ادب، تصوف او عرفان کې یې نامتو څیرې اسلامي نړۍ ته ور وپیژندلې. همدارنګه افغانستان د سیاست په ډګر کې وکولای شول چې د برمکي او سهیل د کورنیو په واسطه د عربو په اداره کې واك وچلوي او د دوی اداره کې ښوڅې. د برمکي بلخې د کورنۍ نسب د برمك بن جاماس بن ویشتاسب ته رسیږي چې د بلخ زرتشتیان وو. د دوی د کورنۍ یو بل غړی جعفر و چې د اتمې پیړۍ په لومړیو کې مسلمان شوی و او د دمشق دربار کې له اموي سلیمان سره یوه منلې څیره وه او همالته مړ شو ددې کورنۍ یو بل غړی ابو خالد برمك و چې په ۷۲۲ کې د اسد له لورې د خراسان عربي والي وټاکل شو او د بلخ سیمه بیز حکومت ورسپارل شوی و. ابو مسلم همدغه سړی په خپل لښکر کې د یوه افسر په توګه د بغداد د نیولو لپاره واستاو. هغه وروسته تر ابو مسلمه د خلیفه سفاح له خوا د بغداد د وزارت دنده تر لاسه کړه، خو د ابو مسلم تر وژل کیدو وروسته معزول او د خلیفه دغوسې وړ و ګرځید تر څو چې په ۷۸۱ کې په بغداد کې مړ شو. ددغه سړي زوی یحیٰ برمکي نومید چې یوه تدبیر لرونکې څیره وه او هارون الرشید ورته د پلار خطاب وکړ او خپل وزیر یې وټاکه. د یحیٰ زامن هم د بغداد په دربار کې په دندو بوخت وو. جعفر بن یحیٰ د هارون وزیر شو او دده ورور فضل د افغانستان والی شو دغې کورنۍ اوه لس کاله د بغداد د خلافت چارې په خپل لاس کې درلودې. دوی له پهلوی او هندي ژبو څخه کتابونه وژباړل، د علم او فن ملاتړ یې وکړ مجسطی، او هندی منګه او سیر ملوك الفرس کتابونه د همدوی په سپارښت عربي ته وژباړل شول، هندي مذهبونه ولیکل شول او تدوین شول، موسی، یوسف او محمد بن جهم همدې کورنۍ پورې تړلي ژباړونکي وو. برمکیانو عربي یتیمانو ته ښوونځي جوړ کړل. خو د دربار ځینو عناصرو د دوی په اداري

دا څکه چې دغې کورنۍ د وزارت په واک کې ډېرې پیسې او واک، پرتم، ژوند او اعتبار بخیلي وکړه. دا څکه چې دغې خبرې د نورو احساسات او سیالي را وپاروله. له دې مالونه وموندل او ډېر لګښت یې هم کاوه چې دغې خبرې د نورو احساسات او سیالي را وپاروله. له دې امله چې د وزیرانو او اشرافو شتمني د هغوی د دولتي درجې او ماموریت سره برابره وه او شتمني، هدیې او څمکې یې هم د دریغ سره برابرې وې. نو لویو والیانو او وزیرانو ته زیاتې په لاس ورتلې، خو کوچنیو ته لږ په لاس ورتلې. خلیفه هم د هغو شعرونو له کبله چې عربو د دوی په صفت کې ویل او د هغو خوښیو له امله چې خلکو له دوی څخه څرګندوله او د دوی د پاملرنې له امله چې په خلکو یې لرله یو څه وېریدل. نو څکه هارون الرشید په ۸۰۲ میلادي کې جعفر وزیر مړ کړ او د هغه تن یې په بغداد کې د ښېړ کاله خوړند پرېښود کله چې وروست شو را کوز یې کړ او بیا یې وسوځاو او ایرې یې باد کړې. د هغه ورور فضل او بوډا پلار یې یحیی د بغداد په بندیخانه کې مړه شول. نوره کورنۍ یې بندي او مالونه یې ونیول شول ښځې یې عوامو ته مباح وګرځول شوې. د دوی پر ځای د برمکي د هېواد اړونده یوه بله کورنۍ چې د سهل سرخسي په نوم یادیده د عباسیانو په دولت کې پاتې شوه. فضل او حسن د سهل زامن وو او زردشتي دین یې درلود. فضل له پهلوي څخه عربي ته یو کتاب وژباړه او یحیی برمیک ته یې وړاندې کړ. هغه خوښ کړ او فضل یې غېږ کې ونیو او مسلمان یې کړ. همدا سړی و چې د هارون الرشید تر مړینې وروسته په مرو کې د مامون الرشید وزیر شو او د خلافت پلازمېنه یې له بغداد څخه مرو ته راوړه. اود عباسیانو توره نښه یې په شنه علوي نښه بدله کړه او بغداد یې د طاهر په لاس ونیو او خپل ورور حسن ته یې وسپاره. دغه سړی هم لکه د برمکیانو په شان ډېره شتمني ټوله کړه او د زیات تجمل لرونکی و او کله به چې د مامون دربار ته ورته په وزر لرونکې کرسۍ کې به ناست و. او کله به یې چې خلیفه ولید له دغې کرسۍ څخه به را کوز شو او سلام به یې واچاو او کرسۍ به یې ده پسې راوستله تر څو به چې خلیفه ته ور ورسید او بیا به بېرته په خپله ځانګړې کرسۍ کې کیناست، خو مامون همدغه سړی مړ کړ او ده پر ځای یې ورور حسن په بغداد کې وساته او لور یې (پوران دخت) ور واده کړه. سره له دې چې فضل ووژل شو خو د هغه یو بل هېوادوال طاهر پوشنګي چې فضل روزلی و، پاتې شو او یو وخت یې لکه د ابومسلم په شان بغداد ونیو

په افغانستان کې د اسلام د دین خپرېدل سره له دې چې په مرکزي او ختیزو ولایتونو کې له ستونزو سره مخامخ شول، خو بیا هم کومو ځایونو پورې چې ورسید. ویې کولای شول نور بیلا بیل دینونه له منځه یوسي. د افغانستان په نیول شویو سیمو کې عربي خلافت د کرنې وړ ټولې ځمکې د بیت المال حق ګڼانه د ټاکلې مالیې په ورکولو سره به د لویو سیمه ییزو او عربي کورنیو په واک کې ورکول کیدې. همدغې طریقې فیوډالي مشروط مالکیت نور هم ټینګ ساتلی و. اسلامي ښوونې او روزنې د زاړه ټولنیز طبقاتي نظام رنګول اعلانول. خو عملاً حاکمه څواک او سیمه ییزو خانانو د ټولنې ممتازه طبقه او شتمن پارکي جوړ او عربان وروسته تر اوږده اخ و ډب څخه په افغانستان کې دې پایلې ته ورسیدل چې باید له سیمه ییزو مخورو او خانانو سره روغه جړه وکړي او هغوی خوشاله وساتي او په ګټو کې یې ځان سره شریک کړي. دا کار د اشرافو او خانانو په ګټه و. خو په بزګرانو باندې یې د مالیاتو بار ډېر درونډ

کړ. د بیلګې په توګه د عباسیانو پر مهال د نیول شوي افغانستان مالیات له څلویښت میلیونو درهمو (د کرمان ۴ میلیونه، د مکران ۴ سوه زره، د سیستان څلور میلیونه، د خراسان شمالي ولایتونو ۲۸ میلیون درهمو) څخه اویا میلیونو درهمو ته اوچت شول. له همدې امله په افغانستان کې د عباسي دولت پر ضد څو څو بزګري پاڅونونه را پورته شول او د شمالي او لویدیځو ولایتونو خلک څو څو کاله د عربو او کورنیو فیوډالانو په وړاندې و جنګیدل تر څو وکولای شي کم له کمه د یوه له غمه خو ځان خلاص کړي. عباسي دولت نشو کولای چې په بواځیتوب سره د نیول شوي افغانستان د خلکو د سیاسي او اقتصادي پاڅونونو په وړاندې و دریږي نو ځکه یې د سیمه ییزو خانانو او عیانو مرسته تر لاسه کړه او له هغوی سره یې د ګډو ګټو په سیوري کې خپل واک ته د وام ورکاو. په دغو دورو کې د هیواد کرنه او اوبه لګول ښه پر مخ تللي وو د هلمند او هریرود له سیندونو څخه نوې ویالې او کانالونه کیندل شوي وو. په بلخ کې تر اویاوو زیاتې د اوبو ژرندې وې او په سیستان کې دې ژرندې وې، په بلخ ولایت کې بیلا بیل ډولونه غنم، حبوبات او وریجې کرل کیدې. په بادغیساتو کې څاروي روزنه ښه پرمخ تللې وه او په غور کې کرنه او مالداري یو ځای په ګډه سره پر مخ روانه وه، پنبه کرل او د وریښمو صنعت هم دود و. تالقان او مرغاب د وړینو ټوکرانو د تولید مهم ښارونه وو او بلخ د سوداګرې مهم مرکز و. په غور کې جوړې شوې وسلې په ګاونډیو هیوادو کې نوم درلود، په تخارستان کې سرپ او نور ډول ډول فلزات او په نورو شمالي ولایتونو کې وسپنه او سره او سپین زر او په غور کې وسپنه او مس را ایستل کیدل او د پنجشیر د سپینو زرو کان نوم درلود. عربي تاریخ لیکونکو د هغه مهال د افغانستان د آبادي او ښیرازی په هکله لیکنې کړې دي. له هغې ډلې څخه (مقدسي) لیکلي و: د خراسان کلي د عراق تر ښارونو هم آباد دي.

(ابن الفقیه) لیکلي و: خراسانیان په علم او صنعت او سوداګرې کې د وخت تر ټولو مخکښ دي... د خراسان خلک ډیر زړور دي. دوی فیروز بن یزدګر او کسری بن قباد (د ایران ساساني پاچایان ووژل) او دولت یې د امویو ځواکمن قدرت څخه خپلواک کړ.

یو بل لیکي: د اسلام په دوره کې خراسان د عربو له خوا په جګړه او سوله ونیول شو، او یو ځل بیا په سیاست، علومو او فنونو کې د خراسانیانو طبیعي درایت، تکړه توب او ښه استعداد او قابلیت څرګند شو، خراسانیانو د نړۍ دنورو ټولو اسلامي هیوادو په پرتله اوچت او زیات شمیر پوهان او نامتو امرا و روزل.[1]

---

[1] – ضحی الاسلام امین احمد مصري

# اووم څپرکی

## افغانستان له نهمې تر دیارلسمې میلادي پېړۍ پورې لومړی

## د طاهري دولت پر مهال افغانستان

**(له ۸۲۱ څخه تر ۸۷۲ پورې)**

په اتمه هجري پېړۍ کې د پوشنګ ښار (اوسنی زنده جان) په هرات کې یو پوره آباد او کلک ښار و، چې مدرسه او جومات یې درلود او په هغه کې اسلامي دیني علوم زده کېدل د طاهر کورنۍ د همدغه کوچني کلي او سېدونکې وه او لکه د برمکي او سهل د کورنیو په شان د اشرافو طبقي پورې یې اړه درلوده، نو هم یې له اسلامي خلافت او هم یې له سیمه ییزو مخورو سره اړیکې او مرستې درلودې، نو ویې کولای شول چې ډېر ژر هغه تشه ډکه کړي کومه چې د سهل او برمکي د کورنیو په له منځه تللو سره د بغداد د خلافت په دربار کې را پیدا شوې وه. طاهر ذوالیمنین وروسته د امین او مامون له پېښو څخه د بغداد د خلافت د نظامي قواوو قوماندان (بولند وی) و. منصور بن طلحه طاهري د مروې او خوارزم د ایالت والي و. عبد الله بن طاهر د بغداد د شحنه حاکم او سلیمان بن عبد الله طاهري په ایران کې د طبرستان د ایالت والي و. په دې توګه د طاهري کورنۍ په عباسي دولت کې ورځ په ورځ زیاتېدونکی واک او خواک تر لاسه کاو، او ویې کولای شول چې له خپل دغه نفوذ څخه د خلافت په دربار کې ډېره اغېزمنه استفاده وکړي. د هېواد سیمه ییز مشران له دوی سره په یوه کرښه روان وو او د عباسي دولت سیاست هم د امویانو د سیاست بر خلاف، د افغانستان د سیمه ییزو اشرافو، مخورو او مشرانو سره برابر و پخوا اموي دولت عربي خالص واک او نژادي واکمني چلوله او په اسلامي هېوادو کې د پیسو په ګټلو لګیا وو، دوی د ملي تبارز زمینه برابرېدلې نه پرېښودله، خو عباسیانو له سیمه ییزو مخورو، اعیانو او اشرافو سره روغه جوړه کړې وه او د دوی او خپلو ګډو ګټو په ساتنې سره یې دغه هېواد اداره کاو. له همدې امله و چې اموي دولت د یوې پېړۍ په ترڅ کې و پرځېد، خو عباسي دولت پنځه پېړۍ دوام وموند.

په هر حال؛ طاهري کورنۍ چې د اسلام د فرهنګي مخکښتوب په دوران کې ژوند کاو، و کولای شول چې یو روښانه خو مستبد دولت په افغانستان کې جوړ کړي او هم ماورالنهر خپلې اداري لاندې راولي. طاهري کورنۍ د تحصیلاتو لرونکي وو. په خپله طاهر په عربي ژبه کې ښه ادیب او شاعر و، عبد الله لکه د پلار په شان شاعر و. طلحه په نحو کې ښه پوهېد. منصور بن طلحه د مروې حاکم هم په فلسفه

کې رسالې ليکلې وي طاهري دولت د اسلامي معارف په خپرولو او د کرني او ابو لګولو په پراختيا کې ډيرې هڅې وکړې، آن دا چې د اوبو لګولو او له اوبو څخه د استفادې په خاطر يې يو قانون د فقها وو په واسطه جوړ کړ هماغسې چې طاهريانو ملي خپلواکي غوښتله همغسې يې هم د اسلام د دين نګه او د عربي ژبې ملاتړ او د اسلامي خلافت ساتنه وکړه، څومره يې چې د عربو د واکمنۍ پر خلاف د افغانستان د خلکو د پاڅون او د آزادي غوښتونکو غورځنګونو ملاتړ وکړ هومره يې هم په سيستان کې د خوارجو پر ضد او په ايران کې د عباسي خلافت د مخالفينو او په مصر او شام کې د اسلامي خلافت له بغاوت کوونکو سره مخالفت وکړ او په دې لاره کې يې هغوی سره جګړه وکړه. عبد الله ابن طاهر په ۸۲۸ کال کې د افغانستان د زردشتيانو يو شمير کتابونه وسوځول او د اسلام د دين په ټينګښت کې يې ډير کار وکړ د طاهري دولت پلازمينه د نيشاپور ښار و

په هر حال؛ طاهر بن حسين پوشنګي د طاهري دولت مؤسس په ۸۲۰ کې افغانستان ته راغی او د افغانستان خپلواکي يې په ۸۲۲ کې اعلان کړه او د عباسي خليفه نوم يې له خطبې و غورځاو. دد افغانستان شمالي او لويديځ مسلمانو شويو ولايتونه ته مرکزيت ورکړ وروسته تر طاهر څخه د هغه زوی طلحه په ۸۲۲ کې واکمن شو. هغه د بغداد له خلافت سره تودې اړيکې وساتلې په ۸۲۸ کې دده ورور علي ابن طاهر پاچا شو. خو د خلکو د يوه پاڅون په ترځ کې ووژل شو په ۸۲۹ ميلادي کې عبد الله د طاهر مشر زوی له بغداد څخه نيشاپور ته راغی او د حکومت چارې يې تر لاسه کړې. نوموړی يو اديب، تجربه لرونکی منصبدار او قابل اداره کوونکی و هغه د عباسي خليفه په دربار کې (چې د پلار برغمل و) د عقل له مخې ډير باکفايته چلند کاو. نو ځکه د باور وړ وګرځيد هغه د ايران، مصر او شام پاڅونونه چې له ۸۲۱ څخه تر ۸۲۹ پيښ شول، ټول د بغداد د خليفه په ګټه غلي کړل د بيلګې په تګه ده په شام کې نصر بن شيث عقيلي او په مصر کې عبيد الله ابن لسری او د ايران په آذربايجان کې بابک خرد مدين و ټول او پاڅون يې غلي کړ کله چې عبيد الله افغانستان ته راغی نو آبادي، کرنې او اوبو لګولو ته يې پام وکړ او په دې برخه کې يې د يادونې وړ کار وکړ هغه په افغانستان کې د فيوډالي سيستم د بشپړتيا په ترځ کې (چې له اوومې پيړۍ څخه تر لسمې پيړۍ پورې ټينګ شوی و) خپلو مامورينو ته داسې وليکل تاسو مو په حجت کې ونيولی. تر څو له خوبه را وينښ شئ او له لټۍ څخه را بهر شئ. او خپله ښه ولټوئ او د ولايت مشرانو سره غوره چلند وکړئ او کرنه او بزګران که وروسته پاتې شي هغه بايد بيرته پياوړی کړئ او خپل ځای ته يې ورسوئ. دا ځکه چې الله (ج) مونږ ته له همدې کرنې څخه روزي راکوي. او دوی له ژبو يې سلام کړی او له دوی سره بېعدالتي يې حرامه ګڼلې ده

د عبد الله دغه ليک چې عبدالحی بن ضحاک ګرديزي په خپل زين الاخبار تاريخ کې نقل کړی، سره له دې چې د يوې توصيې او نصيحت بڼه لري او د بزګرانو لويه طبقه او د هغو برخليک د ځمکوالو په لاس کې ورکوي او د هغوی د رحم غوښتنه کوي. خو بيا هم د عبد الله د نظر ژوروالی ځرګند وي او په دې باندې پوهيد چې خان او ځمکوال په بزګر ستم او ظلم کوي او ورځ په ورځ د بزګرانو ژوند مخ په خرابيدو دی، حال دا چې همدغه خلک خانانو او ځمکوالو ته هم ډوډۍ ورکوي او هم سلام ورته اچوي

Scanned by CamScanner

د عبد الله ښه په یاد و چې دده پلار طاهر، په افغانستان کې دده ته بغداد ته په یو لیک کې لیکلي و (لښکر خواکمن ساته، امنیت یې ډاډمن کړه، خلکو سره یې په عدالت او ښه ډول چلند کوه او د هغوی اړتیاوې چمتو کړه، خپله پاکي د رعیت په وړاندې څرګنده کړه، ناروغانو ته روغتونونه جوړ کړه...)

دا د طاهر هغه لیک و چې نامتو طبري په خپل تاریخ (الامم و الملوک) کې راوستی و

وروسته د عبد الله له مړینې څخه په ۸۴۴ کې د هغه زوی دوهم طاهر پاچا شو او تر ۸۶۱ پورې یې دوام وکړ. خو هغه په کورنۍ اداره کې پاتې راغی او په پای کې د سیستانیانو او بستیانو د پاڅون له امله وروستی ولایت ور څخه د صالح سیستاني په مشر توب جلا شو. محمد بن طاهر دوم چې تر ۸۷۲ پورې پاچا و، یو بې کفایته، لټ او عیاش سړی و. نو ده خپل ځای یوه نوي او ځواکمن دولت ته ور پرېښود او دا د افغانستان د صفاریانو دولت و

د طاهریانو په دوره کې لکه له اسلام څخه د مخکې دورې په شان په افغانستان کې خلک په دري ژبه غږیدل خو عربي ژبې هغه بیخي تر اغیزې لاندې راوستله او عربي لغتونه پکې ننوتل. سره له دې چې طاهریانو په بشپړ ډول د عربي ژبې ملاتړ کاو خو دري ژبه په یوې نوې بڼه او نوې لیکدود سره را څرګنده شوه او په دري ژبه کې لکه د حنظله بادغیسي، عباس مروزي، او ابو حفص صغدي په شان شاعران پکې را څرګند شول او په نوې دري ژبه یې شعرونه لیکل. د طاهري دولت په رامنځته کیدو سره د افغانستان په خلکو باندې د عباسي دولت فشار او ځبېناک یو څه کم شو، خو په بزګرانو باندې د خانانو او فیوډالانو فشار په هماغه بڼه پاتې شو. په دغه دوره کې د اوبو لګولو او کرنې وسایلو یو څه پرمختګ وکړ. له دې امله چې ماورالنهر هم د طاهریانو تر واک لاندې و، نو ځکه د دولت عواید اوچت شول او په یوه کال ۴۸ میلیونو درهمو ته ورسیدل. د بغداد خلافت: طاهري دولت له مالیاتو څخه په هر کال کې ۴۵ میلیون درهمه، ۲۰۰۰ پسونه، ۲۰۰۰ مرئییان (د شپږو لکو په بیه یعنې هر مریي په ۳۰۰ درهمه) اخیستل او څه نا څه ۲۰۰۰ کتاني او نور ډول ډول رختونه او ۱۳ اصلي آسونه او ۱۳۰۰ توټې وسپنه یې د خراج په بڼه اخیستل. امیر عبد الله بن طاهر په خپل وار دا منلې وه چې د دغو ټولو نقدو او جنسو په بدل کې به په هر کال کې ۳۸ میلونه درهمه د خلیفه خزانې ته سپاري. دا ځکه چې د طاهري دولت سیاست له اسلامي خلافت سره روغه جوړه او د لوړو طبقو ملاتړ کول و. همدارنګه د عمومي امنیت ساتنه د دولت د لاټینګښت په خاطر د هغوی لویه موخه وه. یواځې د خوارجو او عیارانو مبارزه کوونکو ځواکونو د دوی په وړاندې اغزي کړل

Scanned by CamScanner

## دوهم

# افغانستان د صفاري دولت پر مهال

## (له ۸۷۲ څخه تر ۹۱۰ پورې)

په افغانستان کې د سیستان خلك د عربو او اسلام د را څرګندیدو پر مهال زردشتیان وو او د عربو په وړاندې یې ډیر کلك مقاومت وکړ، خو عرب اړ وو چې په هره بیه چې وي بأید سیستان ونیسي او بیا له همدې ځایه د کابلستان او سند حوزه خپل کنټرول لاندې راولي. نو په دې توګه د هغوی په سوقیاتو کې د اسلام فقهاو، د اسلام په خپرولو کې شامل وو. همدارنګه دوی یو شمیر قبایل لکه بني تمیم او بني بکر په سیستان کې میشت کړل په عین وخت کې د عربو د خوارجو فرقه چې د بني هاشم او بني امیه په ضد یې جګړې کولې او د عربي دولتونو له خوا ځکول کیدل. دغې فرقې یاغي سیستان د ځان لپاره یوه پناګاه وبلله. ددغو ټولو اسلامي فرقو افکارو د سیتان په خلکو کې اغیزه وکړه. له یوې خوا د اسلام دین ډیر ژر خپور شو او له بلې خوا له عربو سره ضدیت او د عربو له واکمني څخه د ملي خپلواکي د تر لاسه کولو هدف یوه عمومي موخه وګرځیده په دې توګه په ټول سیستان کې پراخه پاڅونونه پیل شول بیلا بیل عربي واکمن په دې موه کې یو شمیر مانې سره مخامخ شول او نور شمیر یې و تښتیدل. یو شمیر نورو یې له خلکو سره روغه جوړه وکړه. عرب واکمن چې د خلکو له پاڅونونو او جګړو څخه په تنګ راغلل. له کفارو څخه یې د مسلمانانو د ساتنې تر عنوان لاندې خوارج او داوطلب لښکر (د مطوعه په نوم) له بیلا بیلو ملتونو څخه راټول کړل یو شمیر بیکاره او بیوزلو خلکو او ماجراجو وګړو خپل قوت وپلوره او په دغه لښکر کې ور ننوتل یو شمیر بیوزله بزګران چې د فیوډالانو له زور څخه په تنګ شوي وو دوی په جلا ډله کې د منځنی طبقې د ناداره شویو وګړو سره یو ځای شول او په ډول ډول کشمکش کې یې ځانګړي تشکیلات جوړ کړل دغه تشکیلاتو یو مشر او سر کرده درلود. دوی د عیارانو په نوم یادیدل[1] ورو ورو د وخت په تیریدو سره د خلکو او حکومت ترمنځ سیاسي. اقتصادي او مذهبي اختلاف ژور شو او د فرقو ترمنځ اختلافات راغلل کلونه تیر شول تر څو چې د عربو حکومت وپرځید او طاهري دولت را منځته شو. خو مطوعه تشکیلات او د عیارانو تشکیلات دواړه په خپل حال پاتې شول، خو د خوارجو فرقه هم لکه د پخوا په شان په اعتبار او قوت کې وه. طاهري دولت ونشو کولای چې ددغو ټولو بیلا بیلو او وسله والو ډلو ځای ونیسي، نو ځکه په هر مساعده فرصت کې دغو خواکونو دولت ته ګواښ پیښولای شو، دا ځکه چې بزګران د فیوډالانو په وړاندې پاڅون ته تیار چمتو

---

[1] - عیاران په پښتو کې د ښه ځوان یا ځوانمرد په معنده دري کې یې کاکه هم بولي (ژ)

وو. مطوعه هم پاڅېدلي وو. د بېلګې په توګه د طاهر بن عبد الله د امارت پر مهال مطوعه د صالح بن نصر بستي متطوعه په مشرتوب را پاڅېدل او عيارانو سره يې لاس يو کړ او د بزګرانو په ملاتړ يې په ۱۴۵ کې طاهري حاکم احمد په غوسي سره له بست څخه وشړلو. په ۸۳۵ کې هغه د احمد پلار ابراهيم چې په سيستان کې د طاهري امارت عمومي والي و، په زرنج ښار کې مغلوب کړ او تېښتې ته يې اړ ايست. ابراهيم د دغو دوارو دښمنانو له لاسه (مطوعه او عيارانو) د وېرې د ښمن (خوارجو) ته پناه ور وړه او عمار خارجي د خوارجو د مشر په مرسته يې په زرنج باندې د متقابل يرغل وکړ. خو ډېره کلکه ماتې ور وخوړه. دا هغه څه چې د صالح مطوعه په ونډه زرنج بوخ کې. د سيستان يو شمېر عياران د يعقوب په نوم د يوه پهلوان تر مشرۍ لاندې ځاى نيولى و.

په اوومه او نهمه پېړۍ کې تقريباً په ټولو اسلامي هېوادو کې، يو شمېر خلک د داسې تشکيلاتو لرونکي وو چې د ګوندونو يا رغول شويو احزابو په توګه پېژندل کېدای شول. د دغو ډلو غړي د ټولنې له منځه را پاڅېدلي وو چې په هغو کې خوار، بېوزلي، درويش او بېکاران، متصوفه عوام، ښاري ځواکمن او خوځنده ځوانان (چې په عين حال کې له اوضاعو څخه ناخوښ وو) راټول شوي وو. د دغو مشرانو د پير، استاد، نقيب يا پدر عهد په نوم يادېدل چې د دغو ډلو لارښوونه ور په غاړه وه. په دې توګه پيروان يې له کوم شرط څخه د دغو ډول مشرانو تابع وو. د دغو ډلو موخه د بدو کارونو پرېښودل او په عوامو کې مشرانو ته درناوى کول و. نو ځکه دوى ځانګړي آداب او شعارونه درلودل. په دغو ډلو کې د غړيتوب داوطلبان د ځانګړو شرايطو له مخې منل کېدل. هغه به ازمېښته کوله. د طريقت خطبه به لوستل کېده. بيا به يې ملا ور تړله او مالګه او اوبه به يې ورباندې څښل او د يو شمېر پړاوونو تېرول لکه سخا، صفا او وفا به يې په غاړه ور اچول. دوى به ځانګړي ډول لوى پرتوګونه اغوستل او د (فتوت) اهل بلل کېدل. کله چې په افغانستان کې دغه ډله خلک را پيدا شول. د عيار په نوم و پېژندل شول او د هغه مهال د ټولنيزو شرايطو له مخې يې سياسي بڼه غوره کړه او د بهرنيانو د واکمنۍ پر ضد، د خدکوالو د زور په وړاندې او د دولت د فشار په مقابل کې په مبارزه بوخت شول. په زرګونو دغه عياران د خپلو مشرانو په لارښوونه په سياسي او انقلابي مبارزه کې ګډ شول او د شتمنو د کاروانونو له لوټلو يې هم ډډه نه کوله. په سيستان کې د لوېديز افغانستان د عيارانو کارونه تر ټولو نورو زيات نوم لري. تر هغو چې صفاري يعقوب د صفاريانو د دولت مؤسس په خپله يو عيار و.

د ابو مسلم خراساني پر مهال د شمالي افغانستان د عيارانو کارنامې نه يوازې په اسطورو کې ذکر شوې، بلکې د هغوى له فعاليتونو څخه په تاريخ کې هم يادونه شوې ده. دوى د اموي او عباسي عربو د واکمنۍ پر ضد او د طاهري فشار په وړاندې او همدارنګه د چنګيز د يرغل په وړاندې پاڅېدلي او له اتلولۍ ډکه مبارزه يې کړې وه. د مرغاب، غور او هرات او نورو ځايونو په جګړو کې همدغه عياران وو چې په سلګونو تنو به د مغولو په لښکر د شپې له خوا يرغلونه کول او د هغوى لښکر ته به يې ماته ورکوله او غنيمتونه به يې ور څخه تر لاسه کول. کله چې چنګيز هرات ويجاړ کړ د همدوى يو شمېر غړو د لکه فخر آهنګر، رشيد برجي، اصيل معدل او نورو له غور، قهستان، غرجستان او مروې څخه تر

څلورو کلونو دغه ویجاړ شوي ښار ته غلې دانې راوړې او پر بیوزلو یې ویشلې. د هېواد واکمنو هم څینې وخت له دوی څخه مرسته غوښته. د اتمې پېړۍ په ترڅ کې د سیستان د عیارانو نامتو مشران ابو العریان او په نهمه پېړۍ کې له صفاریانو پرته، درهم بن نصر، حامد بن عمر، محمد بن هرمز او زنګالود او په لسمه پېړۍ کې احمدنیا، په یوولسمه پېړۍ کې امیر بوجعفر ناصر، احمد بن طاهر، اسحق کاږبن، شنګیان، لیث نوري او بو محمد منصور او نور وو. غزنوي دولت ددغې فرقې د له منځه وړلو لپاره ډېره هڅه وکړه، خو بیخي له منځه نه ولاړل، تر څو چې چنګیز راغی او هېواد یې لاندې باندې کړ او ډېر وراني یې وکړ. خو بیا هم دغه ډله په یوه کوچنۍ او یوه بله بڼه په افغانستان کې پاتې شوه. دوی په کابل کې د کاکه په نوم او په کندهار کې د (ځوان) په نوم تر شلمې پېړۍ پورې ژوند وکړ. دوست د آذر زوی، د بهایي زوی، پیرو بچه ادي، کاکه طلا، کاکه نقره، کاکه شکور، میرزا عبدالعزیز لنګر زمین، صوفي غني او یو شمیر نور په نولسمه او شلمه پېړۍ کې په کابل کې ددغې فرقې نامتو غړي وو. د کابل کاکه ګان په پایین چوک، شور بازار، مرادخانیو او چنداولو کې جلا جلا کړۍ او جلا جلا مشران لرل. څینې وخت به یې په وسلو سره مخامخ لاس او ګریوان جګړې کولې او له خپل تپي کیدو یا وژل کیدو په هکله به یې دولتي ادارو ته خبر نه ورکاو. هغه ځوان به چې په یوه حلقه کې غړیتوب تر لاسه کړ، د اوږدې شملې لرونکی لونګۍ به یې تړله چې تر زنګنو پورې به یې رسیدله. پنې به یې پښو کولې او په یواځیتوب به په ټول ښار کې و ګرځید او د نورو کړیو ځوانانو به هغه ولید چې څینې به په هټیو کې ناست وو او یا به د ځانګړو دروازو ترڅنګ ناست وو، که هغه باندې به د کوم بل ځوان له خوا غږ وشو، نو ددې معنا جګړه وه، او مبارزه به پیل شوه او خلکو به ورته کتل. که به دغه ځوان روغ او بریالی شو، نو په غرور سره به تیرید او خپلې کړۍ ته به رسید. هغه مهال به مبارکي ورته ویل کیده او د ځوان (کاکه) په توګه به وپیژندل شو، خو که به تپي یا مړ شو یا به و تښتید، نو کاکه (ځوان) نه ګڼل کید. د کاکه ګي داو طلب د استاد په وړاندې د یوې آزموینې او شاګردي په تیرولو اړ و. له دغو آزموینو څخه یوه یې له غرونو تیریدل، په شپه کې له هدیرو او قبرونو تیریدل، د ډېرو ستونزمنو کارونو تر سره کول، اوږده مزلونه کول، د کوم ناتوانه ژغورل له کوم ځاني خطر څخه یا له مالي ستونزې څخه خلاصول و. ځوانانو یو بل ته په خبرو کې شیر بچه ویل. څینې وخت به یې د خپل کلکوالي د ښودلو لپاره په لوڅو پښو لکه د آس په شان نالونه ټك وهل. دوی په لامبو، چوب بازي، پهلواني ورزش او پیاده ګرځیدل زده کول، ځان سره به یې چاړه، پیش قبضه، تومانچه او غرابینه (قرابینه) ګرځول، دوی عموماً وسله وال وو او په ځانګړې ډول په خرامان خرمان تلل، پاکې جامې یې اغوستې، ریښتني وو، په ژمنه کلك ولاړ او وفاداره، د بیوزلو لاس نیوونکي وو، هر یو د کار په کولو ځان ته ډوډۍ پیداکوله ننګ و نام ته ډېر کلك ژمن وو. په خواریو کې کلك او اسرارو په ساتنه خواریکښ وو. د جواد (سخیان) هم وو، خو د مخالفینو له وژلو یې مخ نه اړاو. له غریبو خلکو سره د بدایو په پرتله ډېر نژدې او زړه سواندي وو. وروسته وروسته بیا په کابل کې کاکه ګي هم مبتذله او بیخونده شوه، بې تقوا خلکو هم ځان ته د ځوان او کاکه نوم غوره کړ او له بلې خوا یې د امیرانو او مخورو په چوپړ لاس پورې کاو، تر څو چې د شلمې پېړۍ په

Scanned by CamScanner

پیل کې بېخي ورك شول. دغه ډول ډلې يو شمېر نورو اسلامي هېوادونو کې هم تر سترګو شوې په عربي هېوادو کې ورته (فتي)، په ترکیه کې ورته (اخي)، په ماوراالنهر کې ورته (غازي) او په ایراني کې ورته (جوان مردان) ویل کېدل.

## يعقوب صفاري

يعقوب بن ليث بن معدل، په سيستان کې د قرنين د کلي يو اوسېدونکی و او لکه ابو مسلم غوندې د ټولنې له منځ څخه را پورته شوی و. پخوا هغه د زرنج په ښار کې د مسګري شاګردي کړې وه او د ورځې په نيم درهم يې کار کاو. وروسته له عيارانو سره يو ځای شو. ځينې وخت به يې لاره ونيوله مال به يې تر لاسه او له ملګرو سره به يې ولګاو. دې کار ډېر ژر د عيارانو په سر کې ودراو او د نورو مشر شو. تر څو چې د مطوعه ډلې مشر صالح ده ته د بست منصبداري ور کړه. دا څکه چې د يعقوب په ګډون نورو عيارانو له طاهري حاکم احمد سره، په جګړه کې له صالح سره مرسته کړې وه. له هغه وروسته صالح او يعقوب يو بل سره و نښتل او يعقوب صالح ته ماتې ورکړه او صالح و تښتيد. په ۸۵۸ کې درهم بن نصر سيستاني چې د صالح مطوعه بستي يو افسر و د سيستان امير شو او يعقوب د سيستان سپه سالار شو. دوه کاله وروسته (په ۸۶۰) کې يعقوب درهم نصر د سيستان له امارت څخه لرې کړ او ځان يې د امير په توګه اعلان کړ.
يعقوب يو پوځي او سياسي سړی و، د عامه خلکو له ژوند څخه خبر و، نو ځکه يې له خلکو او بزګری طبقې سره په زړه سوي چلند کاو. يعقوب له هغو خلکو څخه ماليه نه ټولوله چې له ۵۰۰ درهمو څخه يې لږ مال درلود. هغه له همکارانو سره مينه وښوده او خپله يې يو ساده ژوند غوره کړ. ساده کتاني جامې يې اغوستې او پر ځمکه به کيناست او د توري په موټي به يې سر کيښود او ويده کيده به. د هېواد د چارو په پرمخ بيولو کې يې پريکنده دريځ درلود او يو کلك سړی و چې فور ماليته او تشريفاتي بيروکراسي ته يې پام نه کاو، خو بيا هم د سلطنت د ساتنې لپاره يې دوه زره درباري ګارد چې د سرو او سپينو زرو ګرزونه يې لرل وساتل او په رسمي ورځو کې به د پاچا د دربار دوو خواوو ته تلل. يعقوب له ساده ګي سره سره وروسته تر مړينې څلور مېليونه ديناره، پنځوس مېليونه درهمونه، لس زره خره او پنځه زره اوښان له ځان څخه پرېښودل.
په هر حال؛ خلکو د يعقوب په شخصيت او کړو وړو باور وکړ او هغه په خلکو ډېره ولګوله. له هغه وروسته يې د افغانستان په دننه کې د دولت په تمرکز پيل وکړ، دا ځکه چې افغانستان د عربو پر مهال په دوو برخو اسلام او غير اسلام باندې ويشل شوی و. طاهري دولت يوازې د اسلامي برخې خپلواکي ډاډمنه کړې وه. يعقوب له همدې امله په ۸۶۲ کې شاه کابلستان او صالح مطوعه په کندهار کې له ماتې سره مخامخ کړل. کابلشاه د جګړې په ډګر کې ووژل شو او صالح په بنديخانه کې مړ شو. له هغه وروسته يعقوب د خوارجو ځواکونه وځپل او د هغو مشر (عمار) يې د زرنج په دروازه کې ځوړند کړ. يعقوب په ۸۶۵ کې صالح بن حجر چې د کابلشاهانو په پلوي يې جګړه کوله، په بست کې له ماتې سره مخامخ کړ،

Scanned by CamScanner

صالح خان وژنه وکړه. وروسته له دې يعقوب د شمال لوري ته پام واړاو هرات او پوشنګ یې له طاهري عمالو څخه ونیو. په ۸۶۷ کې یې کرمان د ایران له عربي والي حسین څخه ونیو. په ۸۶۸ کې یې په ایران کې شيراز ونیواو په ۸۷۱ کې يعقوب د کابلشاه زوی د زابلستان په جګړه کې ونیواو کابلشاه چې د شیوایي مذهب د برهمن شاهي لړۍ وروستی واکمن و په کابل کې د يعقوب له لاسه ماتې سره مخامخ شو. په دغه جګړه کې مزدکونه ونړول شول او بتان غنیمت کړل شول. کابلشاه له زاره کابل څخه د لوګر د سیند له غاړې څخه د کابل پخوانۍ پلازمېنه لومړۍ ګردیز ته او بیا یې د اټک غاړې ته ولیږدوله. کله چې يعقوب کابل ونیو. د بامیان له لارې مخ په بلخ ورغی او هغه ځای یې د بلخ له حاکم ابو العباس څخه ونیو. يعقوب هغه ودانۍ چې د (آل داود) په نوم د بلخ د سیمه ییزو حکمرانو د لړۍ ډېر نامتو واکمن داود بن عباس بن هاشم بن ماهجو ودانه کړې وه ړنګه کړه. دا هماغه لړۍ وه چې د طاهریانو له دورې څخه د سامانیانو تر دورې پورې یې د بلخ د ولایت سیمه ییز حکومت په لاس کې درلود. يعقوب په ۸۷۲ کې د نیشاپور ښار ونیو او طاهري دولت یې د دغې لړۍ د وروستی واکمن محمد په نیولو سره له منځه یووړ. همدارنګه يعقوب د ګردیز سیمه ییز حاکم (امیر ابو منصور افلح) تابع او د صفاري دولت خراج ورکوونکی کړ. په دې توګه يعقوب و توانید چې د لومړي ځل لپاره د اسلام په دوره کې د افغانستان لویه برخه د څو کلونو په ترځ کې سیاسي یووالي لاندې راولي.

وروسته تر هغو يعقوب له عربو څخه د ایران د خپلواکه کولو په هڅه کې شو او د ګرګان له نیولو وروسته یې د ایران عباسي والي محمد بن واصل په ۸۷۴ کې مات او ایران یې د خپلې واکمنۍ یوه برخه وګرځاوه. يعقوب په کلکه په افغانستان کې د عربو د واکمنۍ په ضد و. په تیره بیا له عباسي دولت څخه یې ډېره کرکه وه. هغه تل د سفاح د وزیر ابو سلمه همداني د وژلو، د ابو مسلم خراساني (د عباسي دولت بنسټ اېښودونکی) اعدام کول او د برمکي بلخي او سهل سرخسي د کورنیو له منځه وړل یادول، چې د عباسیانو په لاس تر سره شوي وو او دا یې د عباسیانو د خیانت او غدر بېلګه ګڼله. په هر حال يعقوب په ۸۷۵ کې د عباسي خلافت د له منځه وړلو لپاره پوځ چمتو کړ، خو د ایران د اوسني قصر شرین په شاو خوا کې یې د بغداد د لښکر په لاس ماتې وخوړه، دا ځکه چې هغوی د دجلې د سیند اوبه دده د لښکر د پنډغالي په لوري ورسیخي کړې. په دې توګه د هغو د عسکرو لاسونه له کاره پاتې شول. يعقوب په ډېرې خواشینۍ سره له دغې پیښې بیرته را ستون شو و د کسات اخیستونکې جګړې په فکر کې شو، خو دا مهال ناروغ شو او په ۸۷۸ کې یې له نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

يعقوب نه یوازې دا چې د افغانستان دولت یې متمرکز کړ، بلکې عربي ژبه یې پرېښوده او دري ژبه یې پیاوړې کړه. هغه د غیر اسلامي مذهبونو په له منځه وړلو کې هڅه وکړه. يعقوب د افغانستان هغه لومړنی پاچا و چې د اسلام د خلافت پایتخت د هغه نوم د بغداد خلیفه له نوم سره یو ځای په خطبه کې یادا و.

## د عمرو لیث پر مهال

له یعقوب څخه وروسته په ۸۷۸ کې دده ورو عمرو لیث پاچا شو. هغه له بغداد سره سوله وکړه عباسي خلیفه معتمد د هغه په نامه د ایران او هند منشور را ولیږ او د حرمینو د ولایت او د بغداد د شحنه ګي نوم یې ورته غوره کړ. ددې په وړاندې عمرو لیث دا و منله چې هر کال به شل میلیونه درهمه د خلیفه خزانې ته د حق المقاطعې په نوم ورکوي. هغه مهال همداسې د ود و چې د بغداد خلیفه به د نړۍ امیر المومنین او د اسلام د پیغمبر نایب ګڼل کېده، نو ځکه د اسلامي دولتونو په سر کې و. په یو شمیر اسلامي هېوادو کې خطبه هم د بغداد د خلیفه او د سیمې د پاچا په نومونو یو ځای لوستل کېده. هر پاچا وروسته تر پاچا کېدو اړ و چې د مذهبي تشریفاتو له مخې د بغداد له خلافت څخه د دولت منشور او د سلطنت بیرغ تر لاسه او د نورو هېوادونو د نیولو په خاطر د خلیفه امر په لاس کې ولري. سره له دې چې دې ټولو د عمل په ډګر کې کومه پریکنده اغیزه درلود، بلکې تر زیاته حده یې د مقابل لوري په خواک پورې اړه درلوده. خو بیا هم خلیفه کولای شول چې د مخالفت په صورت کې، په منبر باندې مخالف پاچا لعن (وکنځي) او د مسلمانانو عامه ذهنیت د هغه په وړاندې و پاروي. زیاترو د بغداد خلیفه ګانو له خپل دغه مذهبي دریځ څخه ناوړه ګټه اوچتوله او د خپلو ډېرو کوچنیو موخو د تر سره کولو لپاره به یې اسلامي هېوادونه یو بل سره اچول. د بغداد دغه کړنلاره د عباسي خلافت تر پای پورې دوام وکړ. ددغې کړنلارې تر ټولو زیانمنه برخه د دولسمې پیړۍ په ترځ کې د الناصرلدین الله د خلافت پر مهال پېښه شوه. دغه خلیفه د خوارزم اسلامي د دولت له پرتم څخه کرکه کوله، نو ده ددې پر ځای چې په فلسطین، شام او مصر کې د صلیبیونو په وړاندې دفاع وکړي، د افغانستان غوري دولت او د ترکستان قرا خطایي دولت یې د خوارزم شاه په وړاندې ولمسول. د اسلام د دغه خلیفه تر ټولو ډېر بد او وروستی حرکت دا و چې د چنګیز دربار ته یې یو لیک او استازی ولیږ او هغه یې د خوارزمشاهي دولت ړنګولو ته وهڅاوه.

په هر حال: عمرو لیث له ۸۷۹ څخه تر ۸۸۴ پورې خپل فیوډال او تجزیه غوښتونکي مخالفین هر یو احمد خجستاني بادغیسي. رافع بن هرثمه او ابو طلحه د هېواد دننه له ماتې سره مخامخ کړل او د بغداد د خلیفه دربار ته یې د شل میلیونه درهمو لیږدول و ځنډول. عباسي ولیعهد موفق مرور شو او امر یې وکړ چې په منبرونو کې دې عمرو لیث لعن شي. هغه په ایران کې یو لښکر هم سمبال کړ چې د عمرو لښکر مات او د فارس هېواد ونیسي. عمرو په ۸۸۷ کې په ایران کې په متقابل یرغل لاس پورې کړ، خو پایله یې بریالۍ نه وه. دا مهال بغداد، د مصر د طولاني امارت له مخالفت سره مخامخ و، نو ځکه له صفاري دولت سره پخلا شو او پخوانی حق المقاطعه یې له شل میلیونه درهمو څخه لس میلیونه درهمه ته را ټیټه کړه، خو کله چې بغداد د مصر له لوري بېرته ډاډه شو او طولاني ماتې و خوړه، بېرته یې په ۸۸۹ کې ایران ته لښکر را ولیږ. صفاري پاچا د عربو لښکر ته د اصطخر په سیمو کې ماتې ورکړه او ځان یې د بغداد له شر څخه خلاص کړ. د همدې مودې په ترځ کې صفاري شحنه زابلستان ته ورسېدل او دده لښکر د کابلستان د برهمني دریم پاچا (کلمو) خواک، چې مرکز یې د اټک تر غاړې و، په لوګر کې مات. د سګاوند هندو بې

مزدك وران او بتان يې غنيمت کړل

په ۸۹۴ کې عمرو ليث وروسته له هغه چې رافع چې په خوارزم کې يې د خپلواکۍ ناري سورې وهلې، د خپل حاکم محمد الخوارزمي په لاس وژلی و، د عباسي نوي حاکم معتضد خليفه څخه د ماورالنهر د هېواد منشور را وغوښت او خليفه ورته را وليږ. په داسې حال کې چې د ماورالنهر دولت يو خپلواك دولت و، عمرو ليث تيروتنه وکړه چې په دغه ډول منشور و غوليد او د مرکزي آسيا د نيولو لپاره يې لښکر چمتو کړ. لا صفاري لښکر جيحون ته ورسيدلی چې امير اسمعيل ساماني له آمو څخه را پورې وت او په ۸۹۸ کې يې صفاري لښکر ته ماتې ورکړه. عمرو ليث په خپله د ماورالنهر په لورې لښکر ور وست، خو په بلخ کې له ساماني امير سره په نښته کې يې آس يوه ډنډ ته ولويد. لاس يې له جګړې کولو پاتې شو. لښکر يې مات او په خپله ونيول شو (۸۹۹ کال). ساماني امير هغه په ۹۰۰ ميلادي کال بغداد ته وليږ، يو کال وروسته خليفه معتضد مړ شو او د هغه پر ځای خليفه مکتفي کيناست. په همدې ترځ کې يې عمرو ليث د بغداد په زندان کې وواژه، او د افغانستان د صفاريانو دولت مخ په ځوړ ولاړ.

په افغانستان کې د عمرو ليث ځای ناستي طاهر بن محمد صفاري شو. هغه ايران ونيو او له بغداد څخه يې منشور هم تر لاسه کړ، خو مخ يې د عياشي او فساد خواته واړاو. د هرات، غور او سيستان بزګران او شپانه د دولت له درنو بارونو او د فيوډالانو له کړو وړو څخه په تنګ وو. نو په هر ګوټ کې را پاڅيدل. قرمطيانو هم دوی سره لاس يو کړ. په دې لړ کې په سيتان کې خلکو پاڅون وکړ او طاهر صفاري او د هغه ورور يعقوب، دواړه يې له تخت څخه را و غورځول. دوی دواړه ايران ته خپل والي ته په ۹۰۷ کې پنا غوښتونکي شول، خو والي دواړه ونيول او بغداد ته يې وليږل. په زرنج کې خلکو په ۹۰۹ کې واك ليث بن علي بن ليث ته وسپاره، هغه پر ايران يرغل وکړ او باغي والي يې له منځه يووړ. خو دا مهال عباسي وزير علی بن الفرات مداخله وکړه. لښکر يې را وليږل. ليث د جګړې په ډګر کې ونيول شو او بغداد ته وليږل شو. په زرنج کې محمد بن علي بن ليث پاچا شو. خو کار له کاره تير و. ايران له افغانستان څخه جلا شو او عباسي دولت د افغانستان منشور د ماورالنهر ساماني دولت ته وسپاره. ساماني لښکر په ۹۱۰ کال کې سيستان ته راغلل. محمد وروسته تر جګړې و تښتيد او په رخد کې د ساماني امير لاس ته ورغی. معدل د محمد ورور صفاري پاچا هم زرنج ښار امير احمد ساماني ته پرېښود. په دې توګه په افغانستان کې ساماني دولت د صفاري دولت ځای ونيو. ساماني دولت د سيستان حکومت سيمجور ته ورکړ. خو بغداد مداخله وکړه. د سيستان خلکو مخالفت وکړ. څو څو کاله دا اړ دوړ روان و. تر څو چې په ۹۲۳ کې د ليث صفاري يوه لمسي چې احمد بن محمد بن خلف بن ليث نوميد د سيستان د سيمه ييز حکومت واکمن شو. او ددغې کورنۍ سيمه ييز حکومت وروسته بيا د لسمې پيړۍ تر آخر پورې اوږد شو.

## د صفاري دولت د واک پر مهال د افغانستان ټولنیز وضعیت

د صفاریانو د نیمې پیړۍ د واکمنی پر مهال د افغانستان د ټولنیزې بشپړتیا او پرمختیا تګلوري همداسې روان و او د هېواد سیاسي مرکزیت د فیوډالي اقتصادي نظام د کلکوالي خواته لار پرانیستله له اقتصادي پلوه د هېواد صنعت او سوداګري د پرمختګ په حال کې و. کرنه او اوبه لګول هم په پرمختګ کې وو. په تیره بیا د هریرود په غاړو کې او د هلمند په سیمو کې ښوالي. لارې جوړولو، د آبي او بادي ژرندو جوړولو، د ویالو او کانالونو کیندلو، د شګو د توپان په وړاندې د لرګیو د پټونو جوړول، د اوبو د بندو جوړول، د هلمند په سیند کې بېړۍ چلول او په ښارونو کې ودانۍ جوړولو ښه پرمختګ کړی و. په لویو لارو کې پړاوونه او په دښتو کې لارښود ځلي جوړ شول چې لاره وښیي. د علومو او هنر پرمختګ چې په لسمه پیړۍ کې خپل لوړ ټکي ته رسیدلی و، هغه په حقیقت کې په همدې نهمه پیړۍ کې چمتو شوی و. تاریخ، ادب، نجوم او حساب ښه پرمختګ وکړ. د حساب علم له هندوستان څخه اول افغانستان ته راغلی و او بیا منځنۍ آسیا ته ولاړ چې ډېر وروسته بیا اروپا کې و پیژندل شو.

په عین حال کې فیوډالیزم چې اوومې میلادي پیړۍ څخه راديې خوا مخ په کلکیدو و، په نهمه او لسمه پیړۍ کې نور هم کلك شو. په دغه ټوله موده کې د فیوډالانو پر ضد د بزګرانو پاځونو نه، د پردیو د واك په وړاندې د خلکو مبارزه او د اقتصادي او سیاسي واك د تر لاسه کولو په خاطر په خپله د فیوډالانو ترمنځ اخ و ډب ددې دورې تاریخي ځانګړتیاوې دي. صفاري دولت د هېواد دننه په پخوانۍ مالیه بسنه وکړه او د بزګر پر مالیه یې څه ور اضافه نه کړل. د کورنیو مالیاتو ټوله مجموعه په کال کې ۵۳ میلیونه درهمه وه، په داسې حال کې چې ایران ۲۳ میلیونه درهمه صفاري دولت ته مالیه ورکوله. دولت درې خزانې درلودې: یوه یې د ټول هېواد دخل او خرچ ته وه، دوهمه یې یواځې د دربار او د پاچا شخصي معاملاتو ته ځانګړې وه او دریمه یې هغه خزانه وه چې هغې کې به هېواد د فیوډالانو او شتمنو خلکو شتمني ضبط، مصادره او اچول کیده. صفاري دوره د سیاسي موسسې (دولت) د پرمختیا او کلیوالي او د امنیت د ټینګیدو دوره وه.

د اداري له پلوه، صفاري دولت منظم تشکیلات لرل چې لویو لویو رئیسانو ترکتنې لاندې بوخت وو. له دې امله چې د کورني امنیت د ټینګښت لپاره د دولت لومړنۍ اړتیا او د مخالفینو د ټکولو او د مخالفو ملوك الطوایفیو د له منځه وړلو او د عباسي دولت د تیري د مخنیوی لپاره تر هر څه مخکې منظم پوځ په کار و، نو ځکه د اردو د سمبالتیا لپاره د (جریده سپاه) په نوم یوه ځانګه جوړه شوې وه. د جریده سپاه عارض به د هر سرتیری تنخواه یا معاش د بیست ګاني په نوم په هرو دریو میاشتو کې یو ځل په نغد ډول ورکوله، خو د هغه آس او وسلې به یې کتلې. په خپله صفاري پاچا به د معاش د ورکولو په ورځ د لښکر مخکې د عارض له مخې د یو عسکر په توګه تیرید او خپله درې میاشتنۍ تنخوا، درې سوه درهمه به یې اخیستل او په یوه لوړ ځای به ودرید او د اردو د رسم ګذشت ننداره به یې کوله. همدارنګه د هېواد د مالیې چارو د اداري لپاره (دیوان خراج) او د عدلیې او قضایي چارو لپاره (دیوان

مظالم) او د (قضا محکمه) او د ښارونو د نظم د ساتنې لپاره (ولايت شرط) تاکل شوي وو. (ديوان رسایل) په دربار کې په خپله د پاچا تر نظر لاندې و په صفاري دولت کې جاسوسي ډېره پراخه وه، یعقوب صفاري زیات شمیر خوان غلامان (مرئیان) پیروال او هغوی به یې روزل بیا به یې یو یو د هېواد لویو لویو ستو ته ور بښل. په داسې حال کې چې نویو بادارانو هغوی ته د سزا ورکولو حق نه درلود، په خپله پاچا د همدغه مرئییانو له خولې ددغو غټو غټو څیرو له حال، احوال، کړو وړو او خبرو څخه خبراو د دیوان خراج کلنی معاش پنځوس زره درهمه، د شرط د دولایت (کوتوالي) دیرش زره درهمه او د مظالمو د ریاست شل زره درهمه و. صفاري دولت نه یواځې دا چې د عربو واك بیخي له افغانستان څخه ورك کړ، بلکې د عربي په وړاندې یې دري ژبه چې یوه سیمه ییزه کوچنی لهجه او تر عربي اغیزې لاندې ژبه وه، را برسیره او د ملي او رسمي ژبې په توګه یې وټاکله

دري ژبه په اصل کې د جیحون د سیند دوو غاړو کې را منځته شوې وه. ددغې ژبې په جوړېدو کې د افغانستان او ماورالنهر لرغونو ژبو لکه اسکایي، تخاري، سغدي او پارتي پلهوي ژبو اغیزه درلوده. په تیره بیا سغدي ژبې د هغې د جوړېدو ریښه جوړوله چې څو څو پیړۍ د منځنی آسیا علمي ژبه وه او د مانوي مذهبي آثارو، بودایي او نسطوري اثارو په لیکنه کې ور څخه کار اخیستل کید، د دري ژبې ډېر پخواني نثر او نظم (د نهمې او لسمې پیړۍ اړوند) په بادغیس، مرغاب، سیستان، جوزجان او بلخ او سمرقند او بخارا (ماورالنهر) کې د دغو هېوادونو د پوهانو او فضلا وو په لاس لیکل شوي دي، لکه: ابو عباس مروزي، حنظله بادغیسي، محمد بن وصیف سیستاني، ابو حفص سمرقندي، ابو المويد بلخي او د حدود العالم جوزجاني مولف. په داسې حال کې چې په دغه موده کې په ایران کې آن یوه ټوټه په دري ژبه نظم یا نثر نه ولیدل شوي. دا چې یو شمیر لیکوالو د دري ژبې ریښه (ساساني پلهوي) بللې ده، یوه تیروتنه ده دا ځکه کله چې په ایران کې ساساني پلهوي ژبه رواج وه نو هغه مهال له اوومې پیړۍ راهیسې لا په افغانستان کې دري ژبه وه. آن دا چې ساساني پهلوي ژبه تر دیارلسمې پیړۍ پورې او آن د مغولو تر یرغل پورې د ایران په لویدیځ کې ژوندۍ دري ژبه وه. دري ژبه د صفاري، ساماني او غزنوي ولت په لاسونو په افغانستان کې دود او پراخه شوه. د دري ژبې لهجې هم زیاتره په افغانستان کې را منځته شوې او بیا بیرته هم همدلته له منځه تلي دي لکه هروي، سکزي او زاولي. په هر حال، د دري ژبې لومړۍ ادبي دوره یوه د شفاهي ادب دوره وه چې وروسته وروسته بیا د عربي اسلامي لیکدود په بڼه ولیکل شوه او بیا د صفاري دولت په موده کې ښه پر مخ ولاړه. محمد بن وصیف سکزي د صفاري یعقوب د رسایلو د دیوان مشر و چې هغه په دري شعر وستایه. ابو سلیك ګرګاني د دري ژبې یو بل شاعر و چې د عمرو لیث پر مهال یې ژوند کاو. صفاري دولت پرته له تبعیض څخه په یوه نظامي مطلق العناني سره هېواد اداره کاو چې د ده اداره په قضایي، مالي او جاسوسي بنسټ ولاړه وه، نور یې د اسلامي خلافت دریځ او د روحانیونو او خانانو ځواك ته څه اړتیا نه لیدله او ارزښت یې نه ورکاو. اداري تشکیلات لکه د نورو عربي او اسلامي هېوادو په شان وو، خو د اداري په یو شمیر چارو کې یې له عربو سره توپیر درلود. په دې معنا چې د عربو اداره په پیل کې ساده او ډېره بسیطه وه،

Scanned by CamScanner

وروسته یې بیا د روم او ایران له اداري زده کړل. پخوا یواځې په مسیحي نړۍ کې دوو دیني او دنیایي پاچاهانو (پاپ او شاه) واك چلاو، خو وروسته بیا په اسلامي دولتونو کې یوه تن خلیفه یا پاچا د دین او دنیا دواړو چارې سمبالولې. اسلامي خلافت د خپل قلمرو چارې د اوه ګونو دیوانونو (د مالي، ملکي، جنګي، حسابي عدلي، رسایل او مریبي سائلو د چارو د یوانونو) په واسطه سمبالولې اود خپل قلمرو (وربوي) ولایت نه یې د خلیفه د استازیو (والیانو) په لاس کې ورکړې وه او په اداره کې د مالیې او خراج، د بیرانو، شحنه (کوتوالانو)، قاضیانو او محتسبانو برخه لرله. مخابراتي چارې د چاپار (ډاك) په واسطه تر سره کیدې. خود صفاري دولت په موده کې په افغانستان کې د مرئیتوب اداره وه. عشریه (لسمه برخه) مالیه له ځمکوالو څخه او سرانه (سرې سر مالیه) له نا مسلمانو اتباعو څخه اخیستل کیده، خمس (پېنځمه برخه) له کانونو، پیشه ورانو او سوداګري مالونو څخه اخیستل کیده. د لومړي ځل لپاره عمرو لیث صفاري خپل نوم په خطبه کې راوست، حال دا چې مخکې له هغه خطبه یواځې د اسلامي د خلیفه په نوم لوستل کیده. همدا و چې د بغداد خلافت له صفاري دولت سره وران شو او ددې وخت برابر شو چې ساماني دولت ژر را منځته شي او له ۸۷۴ وروسته په ماورالنهر کې د افغانستان د پاچا یعقوب صفاري د نوم پر ځای، د امیر اسمعیل ساماني نوم په منبرونو کې لوستل کید.

# دریم
# افغانستان او ساماني دولت
## (له ۸۹۲ څخه تر ۹۹۹ پورې)

ساماني کورنۍ د بلخ اوسيدونکې وه چې زردشتي دين يې و. سامان خدا د بلخ حاکم او د سيمې يو مخور او ددغې کورنۍ موسس و. د خراسان عربي والي اسد د اتمې پېړۍ په نيمايي کې له سامان سره دوست شو. سامان اسلام ومانه او په خپل زوی يې اسد نوم کيښود. د اسد زامن تکړه خلك وو او په نهمه پېړۍ کې د مامون عباسي پر مهال د هرات او ماوراالنهر د سيمه ييزو حکومتونو مشران وټاکل شول. له هغو څخه نوح په سمرقند کې، احمد په فرغانه کې، او الياس په هرات کې وټاکل شول. ابراهيم د الياس زوی و چې وروسته بيا د طاهري دولت سپهسالار شو. احمد د فرغانې حاکم په ۸۷۴ کې ومړ او د هغه زوی نصر په سمرقند کې د هغه په ځای کيناست. اسمعيل د نصر ورور د بخارا حاکم شو او همدې و چې وروسته يې بشپړ ساماني دولت په ۸۹۲ کې وروسته د نصر تر مړينې او د سمرقند له نيولو څخه جوړ کړ.

سره له دې چې د افغانستان طاهري دولت، ماوراالنهر ساماني کورنۍ ته ور پرېښود او هغوی سره يې د روغې جوړې لاره غوره کړه، خو د چارو د څارنې او د مالياتو په راټولولو سره يې بيا هم خپل لوړوالی وساته، حال دا چې د افغانستان صفاري دولت داسې نه کول. بلکې د خوارزم حاکم رافع چې د خپلواکې خبرې يې کولې وواژه او غوښتل يې چې خوارزم ونيسي، خو امير اسمعيل ساماني د خوارزم په نيولو کې بريالی شو. دا مهال د سامانيانو او صفاريانو ترمنځ شخړه زياته شوه. د بغداد خلافت چې د صفاريانو له ځواك څخه په وېره کې و، دغه اور ته يې لمن وهله او ددغو هېوادونو منشور به يې کله يوه ته کله بل ته ورکاو. په پايله کې په ۸۹۹ کال کې د بلخ جګړه د عمرو ليث صفاري او اسمعيل ساماني ترمنځ ونښته. صفاري پاچا په دغه جګړه کې ونيول شو او بغداد ته وليږل شو او د افغانستان منشور ساماني پاچاته ورکړل شو. امير اسمعيل چې لا مخکې (طراز) نيولی و او د هغه ځای خلك يې مسلمانان کړي وو، په ۹۰۱ ميلادي کې ګرګان، طبرستان اوري په ايران کې ونيول. هغه په ۹۰۷ کې ومړ. لومړنی بلعمي د همدغه پاچا وزير و. امير احمد بن اسمعيل په ۹۱۰ کې سيستان او بست له صفاري دولت څخه ونيول او خپله به ۹۱۳ کې د دربار د مرئيانو په لاس ووژل شو. کوچنی نصر د هغه زوی، پاچا او محمد جيهاني يې وزير شو. د نصر حکام (واکمن) په افغانستان کې آن تر کندهار او غزني پورې هم ورسيدل. د نصر له مړينې وروسته په ۹۴۲ کې د هغه زوی پاچا شو او فقهيان يې وزارت کې مقرر کړل په دې توګه د دولت اداره مخ په خوړ شوه. په ۹۵۴ کال کې نوح مړ شو او دده زوی عبدالملك د هغه پر

خای کیناست. خو دولت په خوړ روان و د محمد بلعمي وزارت او د الپتګین سپهسالاري د دوې د دولت د ډېر ژر له منځه تګ مخنیوی وکړ په ۹۶۰ کې عبدالملک ومړ. بلعمي او الپتګین له شمالي خراسان څخه غزني ته ورسیدل محمد بن عبدالرزاق د شمالي خراسان حاکم هم له بلعمیانو سره یو خای شو او ابوالحسن سیمجور د شمالي خراسان والي شو د بزګرانو پاڅونو او کورنیو جګړو هم اور اخیستی و د دغه اړ دوړ په ترڅ کې د مرکزي دولت پاتې کیدل بواخې او یواخې د هغو د تکړه وزیرانو له امله و منصور په ۹۷۵ کې ومړ او دوهم نوح د هغه ۱۳ کلن زوی یې خای ونیو د خراسان د سپهسالار ابوالحسن سیمجور او وزیر ابوالحسن عبد الله عتبي ترمنځ مخالفت اداري ګډوډي نوره هم زیاته کړه، په دې توګه اداره د دربار د نظامیانو او ترکي مرئیانو په لاس کې شوه. په پای لوی ولایتونه د دریو خواکمنو خیرو ترمنځ ووېشل شول

نیشاپور تاش ته. بلخ فایق ته او هرات بوعلي سیمجور ته ور ورسیدل په دې مهال کې د ختیز تورکستان د ایلک خانیه دولت سترګې ماورالنهر ته واوښتې ایلک خانیه د ترکانو له قبایلو څخه وو چې د فرغانې په جنوب کې اوسیدل او لکه د تورکانو د نورو قبایلو په شان د لسمې پیړۍ په ترڅ کې مسلمانان شوی وو. په لسمه پیړۍ کې دوی داسې یو حکومت جوړ کړی و، چې له فرغانې څخه یې د چین تر پولو پراخوالی درلود. د قراخانیانو پلازمېنه چې ختیز ترکان (بلاساغون) و په کاشغرستان کې او د ایلک خانیانو پلازمېنه چې لویدیز تورکان (اوز کند) وو. د فرغانې په جنوب کې وه. د ایلک خانیو یوې ربښې په ماورالنهر کې ددغه هېواد اصلي او تاریخي دولت له منځه یووړ او د اکثریت ترکانو قبیله یې واکمنه کړه او په دغه سیمه کې یې خپل دولت جوړ کړ

په هر حال؛ د ایلک خانیانو پاچا بغراخان ماورالنهر ته لښکر وکیښ او په ۹۹۰ کې یې د ساماني دولت پلازمېنه بخارا ونیوله او د سامانیانو پاچا دوهم نوح وتښتید. دا څکه چې بوعلي سیمجور ساماني سپهسالار ددې پر خای چې د هېواد ساتنه وکړي، مخکې یې دا منلې وه چې ماورالنهر به د ایلک خان وي او مادون النهر به دده خپله واکمني کې وي. بغرا خان په بخارا کې ناروغ شو. بیرته خپل هېواد ته ستون شو. ساماني نوح بیرته را ستون شو او په خپل کاواکه تخت کیناست بوعلي سیمجورا و فایق په ګډه سره یو لاس شول وېې غوښتل چې ساماني دولت له منځه یوسي، خو غزنوي سبکتګین د سامانیانو ملاتړ وکړ او په ۹۹۳ کې یې سیمجور او فایق ته د هرات او توس په جګړو کې ماتې ورکړه، سیمجور ونیول شو، خو فایق د قراخاني دولت په ملاتړ ژوندی او روغ ووت او د سمرقند حاکم شو. دوهم امیر نوح په ۹۹۶ کې مړ شو او دوهم منصور چې د دوهم امیر نوح زوی و په کوچنیتوب کې پر تخت کیناست فایق له سمرقند څخه دربار ته راغی د واک خاوند شو. د پاچا پلویان یې له دربار څخه وشړل او په پای کې یې په ۹۹۸ کال کې پاچا ړوند کړ او له تخت څه یې و غورځاو او دوهم عبدالملک یې چې یو ماشوم هلك و په تخت کیناو او هسې به نوم یې پاچا کړ. سره له دې چې محمود غزنوي فایق ته د مرو په جګړه کې ماتې ورکړه، خو نور نو د ساماني دولت د پرځیدلو مخنیوي چې د واك غوښتونکو فیودالانو، د نظامي غرضي افسرانو او ترکي غلامانو د لاس لوبه شوې وه، نه کید. همدا

Scanned by CamScanner

لامل و چې پلاز مېنه په ۹۹۹ کې ایلك خان ته تسلیم شوه او ساماني کورنۍ بندي شوه. ساساني پاچا دوهم امیر عبدالملك هم د ایلك خانیانو په بندیخانه کې مړ شو او په دې توګه یو نامتو دولت د تاریخ په غیږ کې ځای ونیو دا و له سیاسي نظره د ساماني دولت سرګذشت، خو

## له مدني، فرهنګي او ټولنیز نظره

ساماني دولت له ۸۷۴ څخه د امیر نصر بن احمد ساماني په لاس جوړ شو او تر ۹۹۹ پورې یعنی یوه پیړۍ او د پیړۍ څلورمه برخه اوږد شو. همدا پیړۍ په نړۍ کې د اسلامي فرهنګ او تمدن لوړه څوکه وه او منځنۍ آسیا (افغانستان، ماوراالنهر او ایران) له دغه کاروان سره یو ځای روان وو. په دې توګه د سامانیانو دوره، د دغه هڅووب د ودې پړاوو په نهمه او لسمه پیړۍ کې کرنه او اوبه لګول په ټوله منځنۍ آسیا کې ښه پرمخ تللي وو. څاروي روزنه پراخه دود وه او صنعت، وریښم اوبدل او نساجي او کاغذ جوړول په ترقي کې و. سره او سپین زر وسپنه، قلعي، جیوه، مس، سرپ او نوشادر د افغانستان او ماورالنهر له سیمو څخه را ایستل کېدل. د وسلې کرنیزو وسایلو، لوښو، د آسونو د یراق، د څرمن، صابون او ډیوی جوړولو، پوست ګنډلو او غالۍ اوبدلو صنعت ښه په بره روان و. ښارونه ښه ودان او سوداګریزې لویې لارې د پړاوونو په لړلو سره پرانیستي وي او امنیت یې ډاډمن و. له چین، هند، نژدې ختیځ، بلغاریا (د ولګا د سیند منځنۍ برخې ته نژدې) او روسیې سره سوداګري روانه وه. دا څکه چې په ساماني دوره کې بهرنۍ سوله ډېر لږ د بهرنیو یرغلونو له امله زیانمنه کېده، همدې خبرې دا لاره هواره کړه چې سوداګري او پیشه وري وده وکړي، نو په دې توګه د دغو هېوادو ترمنځ سوداګري په پراخه اندازه وه. لکه د وسلې او رختونو سوداګري، د مرئیانو او لوښو سوداګري، د بېلا بېلو فلزاتو او څرمن سوداګري، د قیمتي ډبرو او درملو سوداګري، د څارویو کاغذ، پوستکو، لرګیو، وریښمو، غلې، غوړیو، حبوباتو، صابون، کېږدیو، مېوې، سپینو زرو، وسپنې، مسو او نورو سوداګري، د سمرقند کاغذ په اتمه میلادي پیړۍ کې دود شو، په تیره بیا په ختیځ کې یې ډېر پېرېدونکي لرل.

همدارنګه نهمه او لسمه پیړۍ د منځنۍ آسیا د علم او هنر د را څرګندېدو مهالونه وو، د افغانستان او ماوراالنهر ښارونه د ډېرو هېوادو د علماوو، شاعرانو او هنرمندانو د راټولېدو ځایونه وو.

ساماني دربار د علم او هنر ملاتړ کوونکی او ساتونکی و او فاضل او علم پالونکی وزیران یې لرل لکه ابو الفضل محمد بن عبد الله بلعمي، رودکي بخارامي د دري نظم سرلاری، ابو علي محمد بن ابو الفضل بلعمي د طبري د تاریخ ژباړونکی، ابو عبد الله محمد بن احمد جیهاني مولف، ابو علي بن ابو عبد الله جیهاني، ابو عبد الله، احمد ابن ابو علي جیهاني د المسالك د کتاب مولف و او د الزیادات، مقالات او عهود للخلفا کتابونه یې هم لیکلي و. ابو الفضل محمد بن ابو عبد الله جیهاني، ابو منصور عبید الله بن نصر جیهاني، ابو طیب مصعب، ابو الحسن عتبي او یو شمیر نور. دغو علماوو ټولو د علم او هنر په وده ژوره اغیزه کړې وه.

په ساماني دوره کې دري ژبې ښه وده وکړه او د نظم او نثر په برخه کې ښه اثار ولیکل شول. طبري تفسیر

Scanned by CamScanner

عجایب البلدان چې د ابو الموید بلخي اثر و، د لکه تاریخ طبري او کلیله او دمنه په دري ژبه ترجمه شو. د جوزجاني حدود العالم او د الابنیه في حقایق منصوري منثوره شهنامه، د سعودي منظومه شهنامه، یو شمیر شاعران لکه شهید بلخي، رودکي الادویه د هروي په همدې وخت کې تالیف شوی وو، او لسګونه نور په همدغه دوره کې را څرګند شول. د هغه مهال د بخارایي، دقیقي بلخي او رابعه بلخي کتاب ګڼل کیدای شي چې په هغو کې د عربي دري نثر یوه ښېپړه بېلګه د بلعمي تاریخ او د حدود العالم لغاتو په پرتله دري لغات ډیر دي.

لکه ابو دغې دورې فلاسفه او علما د خراسان د اسلامي دورې له مخکښانو څخه شمیرل کیدای شي، لکه ابو زید بلخي، ابو سعید سجزي، ابو سلیمان منطقي، ابو جعفر خازم او ابوالوفا جوزجاني او نور. په دیني علومو کې ابو سلیمان بستي، ابو حاتم بستي، محمد بن الکاتب او نور د یادونې وړ دي. د نهمې او لسمې پیړۍ تر ټولو نامتو پوهان ابو نصر فارابي او ابن سیناي بلخي وو. په افغانستان کې د ساماني دورې سیمه ییز کوچنی دربارونه ټول لکه په خپله د ساماني د دربار په شان د علم او هنر پالنې ښې بېلګې وې، دا که بلخ، جوزجان، هرات، سیستان، چغانیان، خوارزم، بخارا، د سامانیانو پلازمېنه او هر ځای کې چې د ټولو کتاب پلورنځي لرل او سلطنتي کتابتون د هغه مهال د منځنۍ آسیا یو علمي لوی مرکز و. ابن سینا همدلته و چې د ارسطو او فارابي له آثارو سره آشنا شو.

د بخارا دربار د علمي مناظرو مرکز و چې هلته هیڅ ډول تعصب نه لیدل کید. تر کومه ځایه چې ویل کیدای شي هغه تر دریمې پیړۍ پورې د عباسي لومړنیو خلفاوو او د عباسي الواثق د خلیفه د دوران سره پرتله کیدای شي. د اسمعیلیه د طریقې غورځنګ همدا وخت را منځته شو. دغې طریقې په پیل کې د وګړو ترمنځ مساوات، منطق او فلسفه تبلیغ کوله او په عین وخت کې د عباسیانو د واک پر خلاف وه (په منځنۍ آسیا کې یې ورته قرامطه ویل) په نهمه او لسمه پیړۍ کې په نژدې ختیځ کې او د مصر د فاطمیه خلفا وو له لوري و منل شوه او ملاتړ یې کیده، په منځنۍ ختیځ کې هم د سامان دولت له خوا ور سره موافقه کیدله. آن دا چې امیر نصر بن احمد ساماني په خپله د دغې طریقې پیرو شو، لکه هماغسې چې عباسي مامون معتزله طریقې سره یو ځای شوی و، خو وروسته بیا د علماوو فشار او بغداد هغه ملامته وګڼله او بیا هم د دولت له خوا او هم د متعصبینو له خوا و ټکول شوه، خو دوی له ځانه د دفاع په لټه کې شول. خو غزنوي دولت دوی په ټول افغانستان، ایران او ملتان کې له منځه یوړل. ساماني اداره ټوله په ملوك الطوایفي نظام ولاړه وه او لسمه پیړۍ په منځنۍ آسیا کې د فیودالي مناسباتو د پوره کلکوالي دوران و. سره له دې چې د کاستونو (طبقاتو یا پاړکیو) مقررات ډیر کلك نه وو. د بېلګې په توګه کله به چې مریي د دولت په کار کې شامل شو، نو په لومړي کال به پیاده، په دوهم به د سپرو په ټولي کې، په دریم کال به توری لرونکي. په پنځم کال به د ښو جامواو یراق لرونکی او په اوم کال به (وثاق باشي) کیدای شو. له هغه وروسته به ځینې وخت (خیل باشي) او بیا به ځینې وخت (حاجب) هم شو. کله به چې حاجب د حاجب الحجابي رتبې ته لوړ شو، نو د دولت د تر ټولو لوړو وزیرانو په کتار کې به و. ساماني دولت د لسو وزارتونو (دیوانونو) لرونکی و. چې د وزارت دیوان. د وکالت (په خپله د پاچا د

شخصي چارو او د دربار د چارو منتظم) دیوان، د مستوفي دیوان، اوقاف، قضا، رسایل، شرط، برید، احتساب او د مشرف د دیوانونو پکې رانغښتل چې د صدارت چارې، د دربار وزارت، د مالیې چارې، د دولتي څمکو او اوقافو چارې، عدلي چارې، د شاهي تحریراتو او بهرنیو چارو دندې، ښاري امنیت، مخابرات، احتساب او بلدیه او د استخباراتو دندې یې تر سره کولې. د وزارت دیوان د صدارت حیثیت درلود. په خپله وزیر وروسته تر پاچا مقتدر شخص و، یوازې د ساماني دولت سپهسالار له هغه سره برابر ګڼل کېدای شو او بس. نظامي سپهسالار به د افغانستان والي و چې په نیشاپور کې به ناست و. د لښکر عارض د حربیې د وزارت دنده په غاړه درلوده د برید دیوان د مخابراتو کار کاو. د اشرافو دیوان استخباراتي چارې پرمخ وړې، آن دا چې په کلیو کې او د لویانو په کورونو کې یې مخبران او جاسوسان لرل. د احتساب دیوان لکه بلدیې (ښاروالی)، او یا هم لکه د سیمه ییزو پولیسو په شان و. د شرط امیر (لکه اوس د پولیسو آمر) د پاچا د اوامرو اجراکوونکی او یو زورور مقام و. وروسته بیا یو وخت د اوقافو دیوان د قضا له دیوان سره یو ځای شو. د دولت خزانې دوه برخې درلودې. یوه یې د عمومي دخل او خرج لپاره بله برخه یې د پس انداز یا سپما لپاره ځانګړې شوې وه. پاچا د دغو ټولو تشکیلاتو په سر کې او د دغې اتوکراسي اجرا کوونکی و چې یوازې او یوازې د خدای په نزد مسئول و او بس. د لویو او کوچنیو افسرانو او حکامو تقاعد، مقرري او لرې کول د پاچا واك بلل کېد.

روحانیون او مذهبي علما د دولت د درناوي وړ وو هغو به لکه د نورو رسمي اوغیر رسمي لویانو په شان د پاچا په حضور کې ځکه نه مچوله. د ولایتونو هغو لویو رئیسانو چې په مرکز کې به وو، د خپل رسمي ماموریت په سیمو کې یې خپل قایم مقام ټاکه. د دغه پراخه تشکیل سره سره، ساماني دولت نشو کولای چې هېواد په فیودالي بڼه متمرکز وساتي. تل به فیودال له مرکز څخه تښتید او ځینې وخت به په مرکز واکمن و. سیستان، نیشاپور، هرات، بلخ، جوزجان، چغانیان او خوارزم ټولو تقریباً د خپلواکو امارتونو بڼه نیولې وه، د بېلګې په توګه:

د جیحون ښي لاس ته د چغانیانو ولایت چې اوسنی ترمذ سره په څوا کې و، په لسمه پېړۍ کې خپل ځانګړې سیمه ییز واکمن درلودل چې د ساماني دولت تر ملاتړ لاندې وو. او یو شمیر شاعرانو لکه منجیك، دقیقي او فرخي د هغوی مداح وو. له هغې ډلې څخه ابوبکر محمد بن مظفر بن محتاج چغایي په ۹۳۲ کې د امیر نصر بن احمد ساماني له خوا د خراسان سپهسالار شو او په ۹۴۰ کې مړ شو، دده زوی ابو علي احمد چغایي په ۹۵۰ کې ماکان ابن کاکي دیلمي چې د امیر نصر ساماني په ضد پاڅېدلی و، په جرجان اوري کې له ماتې سره مخامخ کړ. ابو القاسم اسکافي د هغه نامتو دبیرو. وروسته بیا ابو علي چغایي ساماني پاچا امیر نوح له واك څخه لرې او بخارا یې ونیوله او په ۹۵۵ کې مړ شو. ابو المظفر طاهر چغایي د هغه وراره او ځای ناستې و چې په ۹۵۸ کې مړ شوی، فخر الدوله ابوالمظفر احمد د چغانیانو د یوه بل والي ابو علي زوی یا لمسې و چې فرخي او دقیقي هغه په خپلو شعرونو کې ستایلی و.

د سیمه ییزو خپلواکو واکمنو لړۍ لکه د بلخ آل داود، د سیستان صفاریان، د ګوزګان آل فریغون، د

غرجستان او خوارزم محلي واکمن، لکه چغانیان او اسفیجاب او نور هر یوه خپل ځانګړي سیمه‌ییز تشکیلات درلودل چې د مرکزي دولت له تشکیلاتو سره کټ مټ برابر نه و. دغو سیمه‌ییزو واکمنو به خراج یا هم یو شمیر سوغاتونه مرکزي دولت ته وړاندې کول او بس. د «حدود العالم من المشرق الی المغرب» د جغرافیې مولف چې په خپله د خراسان و. هلته اوسید او د ساماني دولت پر مهال یې ژوند کړی، د هغه مهال اداري وضعیت داسې انځور وي:

«د خراسان (افغانستان) پاچاهي پخوا جلا وه او د ماورالنهر جلا. اوس دواړه یو ځای شوي دي او د خراسان امیر په بخارا کې کیني او د آل سامان له کورنۍ څخه دی. دوی د بهرام له اولادې څخه دي چې د ختیځ واکمن بلل کېږي او په ټول خراسان کې د هغه مامورین (عمال) مقرر دي. دوی د خراسان د پولو دننه واک چلوي (پاچا یان دي) چې هغو ته د اطرافو پاچایان یا واکمن وایي»

په اصل کې ساماني دولت چې په خپله د اشرافو له طبقې څخه را پورته شوی و، نو اشرافو، سوداګرو او بدایو خلکو ته یې زیات ارزښت ورکاو چې په دې کړنه کې یې د صفاري دولت په مقابل طرف کې ولاړ و، سامانیانو د ممتازې طبقې په مرسته د صفاریانو ځای نیولی و. نو طبیعي خبره ده چې د لوړو طبقو ملاتړ کوونکی وو. په دغه ډول رژیم کې فیوډال نیم خپلواک، تجزیه غوښتونکی او د مرکزي دولت ضد و. همدا چې وار به یې برابر شو د مرکزي دولت په ضد به پاڅید او کورنۍ جګړې به یې پیل کړې. تر څو خپل ځواک زیات کړي: اسحق بن احمد د امیر اسمعیل وراره په خپله په سمرقند کې پاڅون وکړ. خو بریالی نه شو. همدارنګه د هغه زوی الیاس، په فرغانه کې پاڅون وکړ او په نیشاپور کې مړ شو. دا لړه دومره پراینستل شوه چې دوی پسې وروسته حسین مروزي پاڅون وکړ. د هغه له ناکامي وروسته احمد بن سهل را پاڅید تر څو چې هغه هم وټکول شو. روحانیون هم له فیوډالانو څه کم نه و، دوی هم د خپل واک د ساتلو لپاره د وار په برابریدو سره یې سر پورته کاو. د بېلګې په توګه کله چې امیر نصر ساماني وغوښتل چې د قرمطیانو د کړو وړو ملاتړ وکړي، نو فقهاوو د یو شمیر متعصبینو په مرسته قیام وکړ او د قرمطیانو د لارویانو په ټکولو او ورکولو سره یې دغه نوی غورځنګ له پښو وغورځاو. خو قرمطیان بیخي ورک نه شول، بلکې ځمکې لاندې شول او خپلو پټو هلو ځلو ته یې دوام ورکړ. وروسته تر امیر نصر څخه فقهاوو خپلو هڅو ته نور هم زور ورکړ. آن دا چې یو ډیر پوه سړی یعنی ابو علي جیهاني د ساماني دولت نامتو وزیر یې هم په شرک تورن کړ او د هغه په ځای یو فقیه چې ابو افضل محمد السلمي نومید وټاکل شو. دغه فقیه د امیر نوح بن نصر د ننده (۹۴۳-۹۵۴) ټوله له نوافلو او مستحباتو څخه خار کړه، په دې توګه د دولت د اداري ګډوډې او مخ په خوړ کیدل ګړندي شول.

د دربار دننه هم فیوډالان تل په توطئه او سیالي اخته وو. د اطرافو حکومتونه او ایالتي عسکر ټول په همدوی پورې اړه درلوده، دوی ډیرې ځمکې درلودې. بزګرانو او رعیت هر هغه څه منل چې دوی ویل. دوی لکه د روحانیونو او درباري اشرافو په شان مالیه نه ورکوله. خوله خلکو څخه یې مالیه اخیسته او په هغوی یې بیګار تر سره کاو. کرنیزې ځمکې یا د فیوډال وې یا د روحانیونو یا هم د دولت د اشرافو او نظامیانو. ډیر لږ کرنیزې ځمکې وقفي وې چې ټوټه ټوټه به بزګرانو ته په اجاره ورکول

Scanned by CamScanner

کیدې د دولت مالیات هم له ځمکو او هم له څارویو اخیستل کیدل. چې ټول مالیات په یوه کال کې ۴۵ میلیونه درهمه کیدل. له دې څخه د ایران مالیات د آل بویه تابع او د ساماني دولت خراج ورکوونکی (ری، قم، کاشان او عجم عراق) په یوه کال کې څلور میلیونه درهمه مالیات کیدل. په وارداتو باندې مالیات په سرحدونو کې له سواره څخه یو درهم له یو اوښ څخه دوه درهمه او د اوسیدو په ځایونو کې نیم درهم اخیستل کیدل. له یو ځای څخه بل ځای ته د مرئیینانو د لیږدولو (د مینځې او مریيي د ورلو) مالیه له اویا څخه تر سلو درهمو پورې وه. د میړه لرونکی ښځې د بیولو اجازه لیك له یو ځای څخه بل ځای ته له شلو څخه تر دیرشو درهمو پورې محصول درلود. ددغو مالیاتو د ټولولو لارو چارو او هغه لګښتونه به چې مالیه ورکوونکو کال او د ارباب او ځمکوال زور زیاتې دغه چاره ملا ماتوونکې کار ګرځولی و. له همدې امله بزګرانو او ولسونو او آن شاهي ګارد هم له ساماني نظام څخه کرکه پیدا کړه، نو بزګران او پیشه وران د هغه په ضد را پاڅیدل. د بېلګې په توګه په افغانستان (په غور او غرجستان) کې په ۹۰۷ میلادي کې لس زره بزګرانو او پیشه ورانو د ابو بلال په مشری پاڅون پیل کړ. همدارنګه د. ساماني دولت یو شمیر امرا لکه امیر اسعیل او امیر نصر د خلکو له پاڅونونو سره مخامخ شول، وروسته تر عبدالملك څخه په بخارا کې خلکو پاڅون وکړاو د امیر ماڼۍ یې وسوځوله.
په دې توګه ساماني مرکزی دولت له دوه مخالفو ځواکونو سره مخامخ و. یو یې محرومه طبقه او بل ځواکمن فیوډالان وو. دولت د ځان د ساتنې لپاره د دوارو په وړاندې په عسکرو ډېره لګوله. د دولت لښکر د تر کوله اجیرانو او آزادو عسکرو څخه جوړ و، چې سپاره او پلي عسکر د غشي او لبندۍ لرونکي او توره او سپره او ځیني وخت به یې زغرې هم درلودې. په جګړه کې به پلي عسکر مخکې او سپاره به وروسته وو. د منجنیق الوځول د اړیکو د لارې پریکول او کلا بند کول د دښمن د ماتې لارې وې. له دې پرته پاچا له مرئیینانو څخه جوړ ګارد درلود چې افسرانو یې غیر میراثي ځمکې تر لاسه کولای شوې. دولت به خپلو لښکرو ته د پیسو پر ځای ځمکې ویشلې او دا کارد بزګرانو یعنی د ملت د اکثریت برخې په زیان کار و. دولت په دې توګه پاڅونونه د لښکر په تورو غلي کول. خو یو مهال کې د ګارد د مرئیینانو او د نظامي افسرانو ځواك داسې برید ته ورسید چې په خپله دولت ته یو سیال ځواك جوړ شو. او اداره یې ګډه وډه کړه. دغه ګواښ دومره ستر و چې د ډیرو ځواکمنو ساماني وزیرانو هڅو هم د هغو مخه و نه نیوله. د دربار مرئیینانو امیر احمد ساماني وواژه، دا ځکه چې دربار چې د شهنشاهي او سیاسي موسساتو په سر کې و، په خپله یې ځان د ساتونکی پوځ (شاهي ګارد) او ترکي مرئیینانو په کړۍ کې ایسار کړی و نو ددغې کړی زور په خپله همدغه دربار ماتولی شو. له همدې امله و چې د ساماني دوري په پای کې صدراعظمان او آن ساماني پاچاهان په خپله د نظامي افسرانو په لاس کې د آلې په توګه استعمال شول. په تیره بیا وروسته د ابوالحسن عبد الله بن احمد عتبي له وژل کیدو څخه چې د ساماني امیر نوح بن منصور یو باتد بیره وزیر و. نو له هغه وروسته له وزارت څخه واك ولاړ او د نظامي افسرانو په لاس کې ولوید. نظامیان په اردو. خلکو او ټول دولت باندې واکمن شول. په دې توګه اړ دوړ را منځته شو. ددغو افسرانو خپل منځي سیالي اړ دوړ داسې برید پورې ور ساو چې

سلطنت مخ په پرځيدو شو او د ځواکمنو ترکانو د يرغل لپاره لاره هواره شوه. د سامانيانو پر مهال لکه هغسې چې نا مسلمانو تورکانو بلا ساغون په کاشغرستان کې نيولی و، هماغسې يې هم مسلمانو تورکانو په ساماني دولت کې واك و موند، او شاهي ګارد د همدغو مسلمانو تورکانو په لاس د ترکي افسرانو په مشرتوب جوړ شو، تر څو په خپله د ساماني دولت په اوږو سپاره شول.

د دولت عايدات په لاندې برخو کې لګول کيدل: د پاچا او د ربار لګښتتونه، د عسکرو او مامورينو معاش، د ښار د برجونو او د برجو بيارغاونه او ساتنه، د سيلاونو د ويجاړويو رغونه، د بنديانو خيره، د ملا او مؤذن معاشونه، د پلونو جوړول، د ويالو کيندل او نور. د مامورينو معاشونه د بيست ګاني په نوم په هرو شلو ورځو کې ورکول کيدل. د سمرقند د بريد د ديوان (ډاك) معاش ۷۵۰ درهمه د خجند ۳۰۰ درهمه او د بلخ او هرات ۱۰۰۰ درهمه و. ددولت د مامورينو په ډله کې په خپله وزير چې (صاحب) بلل کيد، منشيان، د ديوان رسايل کاتبان او د محکمو قاضيان څه نا څه د تحصيلاتو لرونکی وو. قاضي د پاچا مرستيال (نايب) و او پاچا د خدای نايب بلل کيد، نو ځکه يې هيڅ مسئوليت نه درلود. پاچا له وزيرانو څخه جوړ مشورتی مجلس درلود، خو د مجلس پريکړه د پاچا د ارادې مخنيوی نشو کولای. پاچا هيڅ قانون ته غاړه نه کيښوده. دربار هم ډير پرتمين او له اشرافو، خدمتګارو، منجمانو، شاعرانو او طبيبانو او بذله ګويانو څخه ډك و.

# خلورم

# افغانستان د غزنوي دولت پر مهال

## (له ۹۶۲ څخه تر ۱۱۴۸ میلادي پورې)

الپتګین د ساماني دربار یو ترکي ژبې مریي او د شاهي ګارد یو غړی و. الپتګین د خپلې پوهې له امله و کولای شول چې په ساماني دربار کې ډېر ژر د شاهي ګارد د افسر په توګه وپېژندل شي او لږ وروسته د حاجب الحجاب رتبې ته لوړ شي. هغه په ۹۵۲ کې د بلخ حاکم مقرر شو او بیا په ۹۵۹ کې د ساماني اردو سپهسالار او د شمالي افغانستان والي شو. چې په ساماني دولت کې یو ډېر اوچت او لوړ دریځ و. په ۹۶۰ میلادي عبدالملك ساماني امیر په بخارا کې مړ شو او الپتګین ساماني وزیر ابو علي بلعمي ته ولیکل چې د عبدالملك زوی دې پاچا شي. په داسې حال کې چې نورو مخورو درباریانو غوښتل د هغه ورور پاچا شي. امیر منصور نوی پاچا په ۹۶۱ کې د سپهسالار د ټکولو په خاطر بخارا ته یو لښکر ور ولیږه. الپتګین دغه لښکر ته د خُلم په جګړه کې ماتې ورکړه او خپله د افغانستان زړه غزني ته ورغی. هغه غزني د توري په زور د غزني له حاکم ابوبکر لاویك څخه ونیو. په دې توګه په ۹۶۲ کې د یو سیمه ییز خپلواك حکومت بنسټ کېښودل شو. ساماني پاچا وروسته د خلم د جګړې له ماتې څخه سوله وکړه او د خراسان د حکومت فرمان یې د الپتګین په نوم ور ولیږه. الپتګین په ۹۶۴ کې مړ شو او د غزني حکومت دده زوی ابراهیم ته ور پاتې شو. وروسته بیا د هغه د افسرانو په لاس لکاتګین او پرتیګین ته ور ورسید. دوی ۱۳ کاله یو په بل پسې حکومتونه و چلول. خو ددوی د حکومتونو پولې د غزني له شاو خوا وړاندې نه وې تللې. آن دا چې د غزني ترڅنګ، ګردیز هم جلا حکومت درلود.

### سبکتګین

په ۹۷۷ کې نوی مسلمان شوی سبکتګین، د الپتګین زوم او افسر حکومت ته ورسید. دغه تکړه سړي د غزني د نامتو دولت بنسټ ایښودونکی و او د خراسان د امیر نوم هم ورته ورکړ شو. ده ډېر ژر د بست ډېر آباد ولایت له سیمه ییز حاکم (بای توز) څخه ونیو او د بست ډېر نامتو لیکوال او ادیب (ابو الفتح بستي) یې د خپل منشي په توګه وټاکه. لږ وروسته یې په بلوچستان کې قصدار ونیول او په ۹۸۶ کې یې کابلشاهانو له برهمني دولت سره جګړه پیل کړه او د لغمان ولایت یې هم ونیو. ده د اسلام د دین خپرولو ته پام واړاوه. د کابل برهمني دولت چې له ۲۰۰ کلونو څخه زیات وخت یې د عربو او اسلام په وړاندې مقاومت کړی و. د افغانستان صفاري دولت په نظامي زور سره د هندوکش له جنوب لمنو څخه.

د هېواد ختيځ ته وشړل شو، دوی د پښتوانې زاړه کابل پر ځای، د اټک غاړې (ویهند) ته ولاړل اوس نو سبکتګين هغوی له لغمان څخه مخ په ختيځ پسې اخيستي وو. په بله جګړه کې يې د غزني والي آن تر پېښور پورې ورساو. سبکتګين چې د بخارا ضعيف دولت هلته د خپلو سيالانو او د هغه ځای د خانانو د لاسي وسيله ګڼله لکه فايق او سيمجور نو ده د بخارا پلوي وکړه او دغو دواړو سره يې جګړه پيل کړه او ماتې يې ورکړه. سيمجور بندي او فايق و تښتيد. سبکتګين په ۹۹۳ ميلادي کې هرات ولايت ونيو او وروسته يې د نيشاپور ولايت هم ور سره وتاړه. په دې توګه يې افغانستان د بلخ او تخارستان، هرات، نيشاپور، بست او بلوچستان په ګډون تر سند پورې په ختيځ کې د سياسي يووالي لرونکی او افغانستان پورې کلك کړل. په ۹۹۷ کې امير سبکتګين په افغانستان کې او ساماني امير نوح په بخارا کې مړه شول.

## غزنوي سلطان محمود (۹۹۸– ۱۰۳۰)

محمود په ۲۷ کلنۍ کې په نيشاپور کې خپله پاچاهي اعلان کړه او خپل ورور اسمعيل چې په بلخ کې يې ځان پاچان اعلان کړی و، په غزني کې له ماتې سره مخامخ او په جوزجان کې يې بندي کړ تر څو هلته مړ شو. همدارنګه ساماني لښکر يې په مرو کې له منځه يوړ او توس يې ونيو په ۹۹۹ کې ورته له بغداد څخه د خلافت منشور هم را ورسيد. له هغه څخه وروسته محمود د فيوډالي اداري د متمرکز کولو لپاره متې ونغاړې. د غرجستان ايالت (چې پلازمېنه يې افشين و) يې د هغه ځای له سيمه ييز والي شار ابو نصر او د هغه له خوی شار محمد څخه و نيول (شار ابونصر ايوب او محدث و). د سيستان ايالت (چې پلازمېنه يې قلعه طاق و) يې سيمه ييز والي خلف بن احمد څخه ونيو (بايد وويل شي چې عربو په اومه پيړۍ کې د سيستان د سيمه ييز امير (ايران بن رستم بن آزاد خونين بختيار) خواك له ماتې سره مخامخ کړی و او د افغانستان صفاري دولت لکه د عربو په شان د سيستان سيمه ييزو اميرانو ته د را څرګنديدو وار ور نه کړ، خو د ساماني دولت پر مهال دوی يو ځل بيا را څرګند شول چې ډير نامتو يې امير عمرو ثاني او خلف بن احمد وو. دغه وروستی يې سلطان محمود غزنوي په ۱۰۰۲ کې له منځه يوړ، خو د غزني له کمزوري کيدو وروسته، بيا سيمه ييز اميران را څرګند شول او د سلجوقي دولت پر مهال يې ډير خواك موندلی و. امير طاهر سيستاني، امير ناصر بن طاهر او امير محمد بن ناصر ټول سيمه ييز اميران او د سلجوقيانو د وخت سيمه ييز مشران ول. ملك تاج الدين حرب يو بل سيمه ييز امير و چې د غوري پاچاهانو په نوم يې خطبه ولوسته او په ۱۲۱۵ کې د هغه پر ځای بهرامشاه کيناست هغه اسمعيليه فرقې سره ضديت وکړ او په ۱۲۲۰ کې د اسمعيلي فدايانو په لاس ووژل شو ددغه اميرز امن ملك نصر الدين او ملك رکن الدين محمود د مغلو د يرغلونو په ترځ کې له منځه ولاړل او تر ۱۲۲۷ پورې دغه ټوله سلسله د سيستان د مدافع نيالتګين خوارزمي په ګډون د مغلو په لاس له منځه ولاړل)

له ۱۰۱۰ څخه تر ۱۰۲۰ پورې غزنوي محمود د دريو جګړو په ترځ کې د غور ايالت (چې پلازمېنه يې

منديش و) د افغانستان په زړه کې ونيو او سيمه ييز امير ابن سوري خان په زهرو وواژه. په ۱۰۱۱ کې بلوچستان (چې پلازمېنه يې قصدار و) بيرته په لاس ورغی (د قصدار ګمرکی عوايد يو ميليون درهمه و)، حال دا چې د جوز جان ايالت (چې پلازمېنه يې يهوديه و) يو کال مخکې لا نيول شوی و يعنی هغه مهال چې محمد فريغوني مړ شو (د جوز جان ايالت د سرپل، ميمنې او دولت آباد په ګډون سيمې وې چې له اقتصادي پلوه پوره سمسورې او آبادې وی، د دغو سيمو د څرمن سوداګرې نوم درلود او ګڼ سمبر پوهان يې هم لرل. د اسلامي دورې په لومړيو پيړيو کې، جوزجان يو نيم خپلواك سيمه ييز حکومت درلود چې (آل فريغون) نوميد او د ساماني دولت له ملاتړ څخه برخمن و. وروسته بيا د غزنوي دولت ملاتړ لاندې هم و. امير محمد بن فريغون د دغې سلسلې مؤسس و په ۸۹۷ کې يې د امير اسمعيل بن احمد ساماني ملاتړ تر لاسه کړه. د هغه زوی ابو الحارث محمد له امير نوح بن سطور ساماني سره په ۹۷۵ کې خپلوي وکړ او د حدود العالم نامتو جغرافيه په ۹۸۲ کال کې د همده په نوم تاليف شوی وه. د هغه زوی ابوالحارث احمد په ۹۹۰ کې له ساماني دولت سره د ياغي فيودالانو په وړاندې مرسته وکړه او په ۹۹۴ کې يې له غزنوي سبکتګين سره دوستانه اړيکې ټينګې کړې او وروسته يې بيا خپله لور سلطان محمود غزنوي ته ورکړه او د سبکتګين له مړينې وروسته يې له محمود سره د هغه د ورور امير اسمعيل په وړاندې مرسته وکړه او د محمود له خور سره يې واده وکړ. نوموړی د ۹۹۹ او ۱۰۰۷ کلونو ترمنځ مړ شو. د هغه زوی ابو نصر محمد هند ته د سلطان محمود په سفرونو کې ګډون وکړ. ده خپله لور د محمود زوی محمد ته ورکړې وه او په ۱۰۱۰ کې مړ شو. سلطان محمود جوزجان په سيده توګه د خپلې پلازمينې تر ادارې لاندې راوست) په ۱۰۱۷ کې غزنوي محمود خوارزم ونيو او آل مامون يې له منځه يوووړل. تر دې مهال پورې د ماورالنهر ساماني دولت له منځه تللی و او پر ځای يې د ايلك خاني تر کانونوی دولت چې د افراسيابي له کورنۍ او نسل څخه ونيولې و. محمود له دغې کورنۍ سره د سولې له لارې پرمخ ولاړ او په ۹۹۹ کې يې د ايلك خان له لور سره واده وکړ. خو ايلك خان په ۱۰۰۵ کې پر بلخ او هرات يرغل وکړ او دواړه يې ونيول، په دې مهال کې محمود په ملتان کې و او هلته يې د سيمه ييز حاکم (داود بن نصر بن شيخ حميد) کورنۍ او قرمطيان پسې اخيستي وو. محمود چې بيرته را وګرځيد او بلخ ته ورغی، نو د ايلك خان له پنځوس زرو لښکرو سره مخامخ شو. هغه په دغه جګړه کې په خپله توره په لاس کې اخيستې وه او پر پيل باندې سپور و. د دښمن د لښکر په زړه يې يرغل وروړ او د ايلك خان بيرغ يې و غورځاو او لښکر يې ورمات کړ. په ۱۰۲۴ کې محمود دومره ځواك موندلی و چې په خپله له جيحون څخه پورې وت او د ايلك خان ورور قدر خان په خپله ورته راغياو يو دوستانه تړون يې ورسره لاسليك کړ. په همدغه کتنه کې قدر خان له محمود څخه هيله وکړه چې د ترکمان سلجوق زوی له ماورالنهر څخه خراسان ته بوځي. د سلجوق زوی په (نور بخارا) کې ميشت و او يو ډير ځواکمن او سرکښ سړی و، محمود هغه له څلورو زرو اتباعو سره يې يو ځای افغانستان ته راوستل. په خپله يې ملتان ته ولېږ او هلته يې له دوو زامنو سره مړ شو. خو د هغه اتباعو ته يې په نيشاپور کې ځای ورکړ او دوی يې له وسلې ګرځولو څخه منع کړل ورو ورو د هغه اتباع له ماورالنهر څخه مخ په افغانستان راتلل

او د سلطان مسعود تر مهاله پورې يې د خوارزم ټول ياغيان اړکړل چې مروې او نسا ته ولاړ شي. همدوی په پای کې غزنوي دولت له منځه يو وړ
په ۱۰۰۱ کې محمود د ختيز په جبهه کې د کابلستان برهمني پاچا جيپال د سند په غاړه کې د هغه له مرکز ويهنه سره يو ځای له منځه يووړ او خپل عسکري مرکز يې په پېښور کې وټاکه په ۱۰۰۵ کې د ګومل له لارې ديره جاتو او ملتان ته ورغی او د ملتان حکومت يې ړنګ کړ چې اسمعيل مذهبه و. په ۱۰۰۷ کې يې په پنجاب يرغل وکړ په ۱۰۱۴م کې تر تيسر پورې او په ۱۰۱۵م کې تر کشمير او په ۱۰۱۷ کې تر قنوج پورې ورسيد
محمود په ۱۰۲۵ کې د کابلستان د برهمنشاهانو لړۍ د هغوی له پلازمېنې ټهنده سره يو ځای د ستلج تر غاړې له منځه يووړه له دې څخه مخکې په ۱۰۲۲ کې ګواليار او کالنجر او په ۱۰۲۴ کې سومنات نيول شوي وو مکران هم په همدغه کال اطاعت کړی و همدارنګه د ګرګان او طبرستان سيمه ييز امير منوچهر چې د آل زيار له کورنۍ څخه و هم د غزني حکومت لاندې راغی. ری، همدان او اصفهان په ۱۰۲۸ کې له مجدالدوله د يلمې څخه ونيول شول د همدغو سوبو په لړ کې محمود ګڼ شمير قرمطيان په بيلا بيلو ښارونو کې په دار و ځړول او يو شمير معتزله يې خراسان ته تبعيد کړل. د هغوی هغه کتابونه يې چې د نجومو، حکمت، فلسفې او منطق په هکله و. ټول ور وسوځول دوي د کتابتون هغه کتابونه چې له شريعت سره په ټوپير کې نه وو، ټول يې په سلو بارورونکو څارويو د غزني پلازمېنې ته راوړل. محمود په ري کې د عقايدو د تفتيش د ادارې لپاره نامتو مدرس شيخ ابو حاتم ابن خاموشو تاکه ترڅو د هر هغه چا د عقيدې په هکله پلټنه وکړي چې نوي ري ته راځي او د بدعت او د منحرفو عقايدو مخه و نيسي په دې توګه د غزنوي افغانستان قلمرو له قزوين (ايران) څخه نيولی تر ستلج سيند (شمالي هندوستان) پورې او له خوارزم څخه د عربو تر سمندر کې رسيدلی و
بالاخره محمود په ۱۰۳۰ کې د ۵۹ کلونو په عمر مړ شو محمود په تنه ښه پياوړی او د جذابې څېرې لرونکی و. د بيلا بيلو وسلو په کارولو، آس ځغلولو او جګړه کې تکړه و. سره له دې چې په عربي ژبه نه پوهيد، خو ديني علوم او معلومات يې پوره و. اسلامي ادب او تاريخ کې يې پوهه درلوده شطرنج لوبه يې زده وه، په سياست او اداره کې ډير کلک او دور انديش و. هغه تر وسه وسه سياسي مجرمين نه اعدامول، بلکې تر هغه يې په بند کې ساتل تر څو به چې مړه شول. ډير لږ به کوم سياسي بندي د محمود له حبس څخه خلاصون موند. محمود لښکر او استخباراتو ته ډير اهميت ورکاوه او درباري پرتم او جلال يې خوښيد. هغه د افغانستان دننه او بهر د اسلام د دين او د دري ژبې خپروونکی و. په مذهب کې ډير متعصب و. نو ځکه يې پرته له اسلام څخه بل هر مذهب او فلسفې سره د ښمني وه. له همدې امله دده په دوره کې په افغانستان کې ټول عقلي علوم په ټپه و دريدل او د سامانی دورې پراخ نظري له منځه ولاړه. ابن سينا له همدې امله غزني ته رانغی او قرمطيان هم له همدې امله د غزنويانو د قلمرو دننه تعقيب او تفتيش او په بې رحمۍ سره له منځه يوړل شول. قرمطيان په يوناني او مصري معارف پوهيدل او د صابيينو په علومو خبر وو. هغوی دغه علوم په عربي ژباړل او خپلو پلويانو ته يې چې د

عباسیانو پر ضد وو ، ویشل قرمطیانو پټ سازمانونه لرل. دوی د مساواتو پلوي کوله. د بشر حقونو او د نورو عقایدو ته یې درناوي درلود او هڅه یې کوله چې خپل افکار په خپلو کې خپاره کړي. د عباسیانو پلویانو او یو شمیر متعصبینو دوی په کفر تورنول او له منځه یې وړل. وروسته تر هغه د افغانستان په مدارسو کې پرته له نقلي علومو ، یو څه ادب، یو څه حساب، نجوم او طب څخه نور څه نه د تدریس اجازه نه وه او نه تدریس کیدل. تقلید د تحقیق ځای نیولی و. د غزنویانو دغه قشري روش وروسته بیا په ټوله منځنۍ آسیا ، افغانستان، ماورالنهر او ایران کې چه دري ژبې و او که نورې ژبې یې لرلې پرمخ بوتلل شو ، په دې توګه د پوهې او فرهنګ انحطاط څو پیړۍ نور دوام وموند.

په هر حال، په افغانستان کې د محمود غزنوي دوره د مذهب، ژبې او سیاست له پلوه د یووالي د ټینګیدو او په ټول هیواد کې د اسلام د خپریدو دوره وه (یوازې په شمال شرق کې یوه کوچنۍ سیمه کې اسلام نه و)، او دري ژبې د ټولو نورو کورنیو او بهرنیو ژبو ځای ونیو. فیودالي ټیټ او پرک اداري هم مرکزیت و موند او هنري شهکارونه پیدا شول او په دغه دوره کې نامتو هنرمندان وروزل شول. دانې جوړول، پیشه وري، او به لګول او کرنې او سوداګرۍ ښه ترقي کړې وه. دا چې ځینې وایي چې محمود د مال حریص و او هندوستان یې د مالونو د لوټ کولو لپاره ونیو، لږ څه د پام وړ ده. دا څکه چې د ډیرو پخوا وختونو تفکر او کړه وړه زمونږ د وخت له تفکر او کړو وړو سره توپیر لري. نو د ډیرو پخوانیو نفس او روحیات د اوس وخت سره تحلیل او قضاوت کول د تطبیق وړ نه دي. دا به سمه وي چې که د تیرو شویو د کړو وړ په هکله د قضاوت لپاره مونږ خپل خانونه د هغوي د مهال، چاپیریال او جریاناتو او پوهې کې و ګڼو او بیا قضاوت وکړو. تر کومه ځایه چې تاریخ له مونږ سره مرسته کوي، مونږ ګورو او پوهیږو چې د هیواد په قرمطیانو دده فشار چې د اسلام یوه ډله وه، تر هغه فشار څخه ډیر زیات و کوم چې د جنګ پر مهال په هندوانو و. دا څکه چې هندوانو وروسته تر شرعي جزیې منلو د یوه ذمي په توګه په خپله مذهبي مراسمو کې آزادي لرله او د خپل مال او سر له خوندیتوب څخه ډاډمن وو. حال دا چې معتزله او قرمطیان د مرتد په توګه بیخي له منځه وړل کیدل. له همدې امله محمود ددغو خلکو د عقایدو په وړاندې رسمي چلند کاو او آن په ایران کې یې ددغو چارو لپاره مذهبي مامورین ګومارلي وو. نو په دې توګه هند ته د محمود د لښکرو لیږلو مذهبي اړخ درلود. نه د مال د تر لاسه کولو اړخ. هغه غنایم او مرئیانو د مذهب له حکم سره سم منل او د غیر مسلمانو مزدکونه یې په اسلامي جوماتونو اړول یا یې هم بیخي نړول.

محمود یو متعصب مسلمان و او اعلای کلمة الله یې خپله دیني دنده بلله نو په دغه لاره کې د هغه جګړې هم د هیواد دننه او هم بهر که ټولې له مالي پلوه وای. نو مسلمان شوي او تسلم شوی هندوان به یې ژوندي نه وای پریښې او مالي او جاني مصئونیت به یې نه وو ورکړی، یا به یې مات کړل شوي ډیر قیمتي بتان د ویجاړولو پر ځای د هغو په پیروانو پلورلي وای. خو داسې یې و نه کړل. هغه بتان ماتول او ویلې کول یې او حاصل یې خپله حلاله شتمني بلله او هغه یوازې په هغو برخو کې لګوله چې هلته شکمنې پیسې نه په کار کیدې لکه د جوماتونو جوړول او نور. محمود دغه ډول شتمني سپېڅلې بلله او

د صدقې په توګه یې ویشله. مسعود په بدو پېښو کې نذر په غاړه اخیست چې په اصطلاح سره غزوې سنت یې پر ځای کاو. په هانسي او بنارس باندې یرغلونه د همدې ډول غزواتو څخه ګڼل کېږي چې په هغو کې ډېر مال او سرې له منځه ولاړل. دا سمه ده چې محمود په تخت باندې د کیناستو پر مهال اتې میلیونه درهمه نه لرل (دا ۴۰۰۰۰۰ طلاوې کېږي)، حال دا چې د پاچاهي پر مهال د هغه شتمني دولس میلیونه طلاوې یعنې دومسه او شل میلونه درهمه. ده په غزني، هرات او ګردیز کې ډېرې زیاتې کرنیزې ځمکې هم درلودې. په غزني کې دده د کرنیزو ځمکو د چارو مسئول بوسعید و چې د پنځلسو کالو زحمت په بدل کې یې اوولس میلیونه درهمه باقي دار شو او بیا وروسته امیر مسعود د ابو سعید یو میلیون درهمه تنخا ورته مجرا کړه او پاتې شپاړس میلیون باقیداري یې ورته و بښله. حال دا چې محمود په ګردیز او هرات کې د خپلو ځمکو مسئولین (معدل او سعد خاص) د باقیداري له امله په درو ووهل او کړاو یې ورکړ. له محمود څخه مخکې هم یو شمیر پاچاهانو ځانونو ته ډېره شتمني ټوله کړې وه. الپتګین د محمود د پلار سلف په افغانستان او ماورالنهر کې پنځه سوه کلي لرل او په هر ښار کې یې مانۍ، بڼ او کاروان سرای او حمامونه لرل. صفاري پاچا یعقوب چې کله مړ شو څلور میلیونه سره زر (دینارونه)، پنځوس میلیونه درهمه. لس زره خره او پنځه زره اوښان یې لرل. په هر حال؛ سلطان محمود چې په شریعت ډېر کلک ولاړ و. آن د خپلو لویو مامورینو د مالونو او شتمني ضبطول او مصادر یې د شرعي اقرار خط. شاهدانو او شهادت د پراوونو له تیرولو وروسته د قانون له مخې مصادره او ضبطول.

د مسعود بن محمود مهال (۱۰۳۰ - ۱۰۴۱): د محمود له مړینې وروسته د هغه زوی محمد له جوزجان څخه غزني ته راغی او پاچا شو. هغه په عیش او عیاشي، ترنم، تجمل او شاعرۍ او اسراف پیل وکړ. درباریانو دده ورور مسعود چې د ایران والي و را وغوښت، محمد بندي شو او د غور په مندیش کلا کې واچول شو. مسعود له اصفهان څخه نیشاپور ته، بیا هرات، بلخ او غزني ته را ورسید. خپل بندي ورور یې روند کړ. د بغداد د دربار منشور چې مسعود ته را ورسید د ټولې وسطي آسیا پاچاهي دده شوه (د خلیفه له کیسې ور وبښل شوه) او هغه ته یې (المنتقم من اعدالله) یعنی د قرامطه خطاب وکړ. مسعود لکه محمد غوندې د تحصیل خاوند و او له درې ژبې پرته په ترکي او عربي هم پوهید او درې او عربي ادب باندې پوهید. هغه پیاوړی، خواکمن، زړور، مستبد، ځان غوښتونکی، بدګمان، تجمل غوښتونکی او حریص سړی و. د ځواني پر مهال یې غیرنیول، ورزش، تیرې اچول او ډیو زور آزمایل کول. مسعود د دولت تجربه لرونکی خیرې یا بندي، یا مصادره، تعقیب او له منځه یوړل لکه امیر یوسف بن محمود، سپهسالار، علي قریب سپهسالار، اربارق سپهسالار، غازي سپهسالار، احمد نیانیالتګین، التونتاش او حاجب سباشي او د ګارد سالار یکتغدي او داسې نور. هغه د محمود د مهال فراري ترکمنان له ګرګان څخه هرات ته را و غوښتل چې دده له ورور محمود سره جګړه وکړي او ډېر یې په اردو کې و منل او بلوچستان او سیستان ته یې ددې لپاره ولیږل چې د هغه ځای امنیت ډاډمن کړي، خو وروسته یې د هغوی ډېر مشران په رې کې ووژل، د هغوی شتمني یې لوټ کړه او په پای کې یې

هغوی پاخون ته اړ کړل.
سره له دې چې مسعود په بهرني سیاست کې ډیر پوخ پر مخ ولاړ. د ترکستان له دولت سره یې ښې اړیکې وساتلې او د بغداد له خلافت څخه یې و غوښتل چې پرته د افغانستان له دولت سره له اړیکو نیولو دی له ترکستان سره په سیده توګه اړیکې نه نیسي او هم باید په ایران او هندوستان باندې د افغانستان واکمني و پېژني. خو د هغه کورنی سیاست سم نه و له همدې امله په شمال کې ترکمانانو پاخون و کړ او هرات، توس، ترمز او چغانیان یې لوټ کړل. د خوارزم غزنوي والي هارون د التونتاش زوی هم چې د بخارا د پاچا علي تګین په شان د یوه ځواکمن دښمن په وړاندې ولاړ و. د مسعود له دوه ګوني چلند او دوه مخې څخه مرور او د خپلواکۍ هڅې یې پیل کړې. د مسعود کړو وړو له ملت څخه پرته. د هېواد اشراف هم په غوسه کړي وو چې زیاترو د ماورالنهر ترکانو ته په ښه سترګه کتل همدا لامل و چې وروسته یې ترکمانان پر افغانستان یرغل کولو ته ولمسول او زړور یې کړل. آن دا چې له سلجوقیانو سره د څلورمې جګړې په ترځ کې د هغه د مرئیبانو ګارد چې د مسعود په لاس له منځه وړل شو ځیرو سره یې مینه وه. له دښمن سره یو ځای شول مسعود نه یوازې دا چې له ترکمانانو سره په چلند کې تیروتنه وکړه، بلکې د علي تګین په هکله یې هم نا سمه لاره ونیوه. په دې معنا چې وروسته د محمود له مړینې څخه، مسعود له ایران څخه نیشاپور ته راغی او غوښتل یې چې له خپل ورور امیر محمد سره و نښلي چې د پلار پر ځای ناست و. نو د غزنویانو له یوه پخواني دښمن یعنی د بخارا له پاچا علي تګین څخه یې مرسته و غوښته او دا یې و منله چې ددغې مرستې په بدل کې به د ختلان ولایت علي تګین ته ورکړي له دې امله چې مسعود پرته له کومې کورنۍ جګړې څخه واک ته ورسید. نو د علي تګین د مرستې اړتیا پېښه نه شوه، نو علي تګین یې له ورکړل شوی وعدې سره یو ځای هیر کړ دغه کار تر پخوا لا زیات علي تګین او نور ترکمانان ولمسول مسعود د وزیرانو د غونډې د فیصلې بر خلاف په ۱۰۳۲ کې دوه ځله پوځ هندوستان ته ولیږ، چې سرستې کلا او هانسي یې ونیول. حال دا چې د هغه سالار احمد یو څه مخکې پر بنارس یرغل کړی و. ده ګرګان، ساري او آمل باندې هم یرغل وکړ او خلک یې تر فشار لاندې راوستلی وو. ده د آمل او طبرستان پر خلکو یو میلیون دنیار (سره زر) حواله کړل. د غزني نامتو وزیران لکه احمد حسن میوندي، خواجه عبدالصمد، بونصر مشکان او یو شمیر نور ملکي او نظامي پوهان د مسعود د پاچاهي پر مهال د هغه د خپلسري، عیاشي او فشار له امله خپه وو. په پای کې دوی ټول د نظم او اداري له راوستلو څخه پاتې راغلل خلک هم د هغه د حاکمانو له حرص او د دوی پر اوږو له بار شویو بارونو څخه په تنګ وو. د بېلګې په توګه د خراسان یوه حاکم (سوري) یوازې په یو ځل مسعود ته پنځه سوه بارونه سوغاتونه ولیږل چې څلور میلیونه بیه یې درلوده په دغو بارونو کې د ري، عراق او بغداد د عجمو او د ګرګان او طبرستان د خلکو ډیر ګرانبیه محصول لکه غالۍ، لوښي، سره زر، سپین زر، وینځې، مرئییان، مشک، کافور، جامې عناب، مرغلرې، خوراکي شیان، ځنبلو شیان او نور شیان و چې څلور میلیونه درهمه بیه یې درلوده. بیهقي لیکي: سوری ظالم او زړ ور سړی و او خراسان د هغه د ظلم له لاسه تر پوزې رسیدلی و. خو سعود ذ سوري د

Scanned by CamScanner

سوغاتونو په لیدلو سره وویل چې د دغه سوري ډېر ښه چوپړ کوونکی دی. که زما دا د ډول دوه دري نور چاکران وای. ډیرې ګټې به مې وې خو تجربه لرونکو هماغه مهال ویلي چې د خراسان له رعیت څخه یو ښننه وکړئ چې هغوی یې څومره خورولي دي ؟او دا ډول سوغاتونه یې ور څخه تر لاسه کړي. بله ورځ به څرګنده شي چې ددې کار پایله به څه وي

همدا رنګه مسعود په کال کې دوه خله یې د نوروز او مهرګان په جشنونو کې نغدي او جنسي سوغاتونه له ټولو ولاویتونو لکه خوارزم، چغانیان، ګرګان، کرمان، بلخ، بلوچستان او نورو ولایتونو څخه تر لاسه کول کله چې مسعود د ترکمانانو له پاڅون څخه وروسته هرات ته ورسید، د هغه عسکرو خلك له ترکمانانو سره د یو خای کیدو په پلمه ټول لوټ کړل یو شمیر خلك یې و ووژل. آن دا چې مسعود امر وکړ چې د هرات د عامل بوطلحه شبلي څرمن په همدې نوم و باسي. دا په داسې حال کې چې په خپله مسعود د عیش او نوش غونډې جوړولې او هیڅ ته کوم ګواښ نه و مسعود به هغه پیسې چې په دې توګه تر لاسه کولې. ټولې به یې د دربار په تجمل او عیش و عشرت خوړلو او ښځو بربادولی. دده د مجلس ملګرو به چې له اتو څخه تر دولسو پیالو پورې شراب و ښځل نو له پښو به ولویدل. په خپله ۲۷ نیم مني جامونه ښځل خو بیا به یې هم حال عادي و او ډیر ژر به یې اودس وکړ او لمونځ به یې پیل کړ له دې پرته ښني وخت به یې تریاك هم خوړل د بېلګې په توګه کله یې چې غوښتل چې د افغانستان په شمال کې سلجوقیان په ناڅاپي توګه وټکوي، د لښکر په سر کې یې د شپې له خوا یرغل ورباندې ور وړ. خو له دې امله یې تریاك یې خوړلي وو نو د پیل په سر خوب ورغلی و او پیلوان د چټك تلو زړه نشو کولای. تر څو چې سلطان را ویښ شو. سبا شوی و او دښمن خان ساتلی و

د مسعود تخت او خول د درې کلونو په ترځ کې د میلیونونو درهمو په لګښت جوړ شوی (تخت او خول دواړه له سرو زرو و ډیرو ګرانبیه مرغلرو په درلودلو سره جوړ شوی و چې د سرو زرو په زنځیر له چت څخه ځوړند و. له تخت څخه ډول ډول انځورنه لکه د ګلانو ښاخونه او نور د مرغلرو څخه جوړ شوی و او څلور انساني مجسمو یې د تخت څلورو خواوو ته په لاسونو د سرو زرو خول (تاج)، د تخت له پاسه جګ نیولی و چې دروند والي یې د سلطان پر سر رانشي د سلطان سر او خولی هم د همغه تاج (خول) لاندې راتلل) بیهقي د غزني د دربار تاریخ لیکونکی د مسعود د تاجپوشي ورځ د سر په سترګو لیدلې او لیکي ((هر چا به چې د هغې ورځې تجمل، پرتم او ښایست ولید، نو وروسته تر هغه به یې چې هر څه ولیدل په نظر باندې یې هیڅ هم نه راتلل...)) د ګرګان د ولایت د واکمن (باکالنجار) لور کله چې مسعود سره واده وکړ، په جهیز کې یې یو تخت راوړ چې فرش یې سپین زر او دیرش ونې یې درلودې چې ټول ښاخونه یې د مرغلرو، فیروزې، زمردو او یا قوتو څخه جوړ وو، شل د سپینو زرو د نرګسو ګلدانې د دغه ونو پر شاو خوا لګول شوي وي چې ټولې د سرو لو سپینو په غمیو پسو للي وي.

سلطان مسعود د خپل یوه زوی (مردانشاه صغیر) په واده کې ناوې ته د لس میلیونو درهمو جهیز چمتو کړی و چې په هغو کې څلور د سرو زرو تاجونه و چې د مرغلرو په امیلیونو پسوللی و او شل د سرو زرو طبقونه ور سره وو، مسعود څلور زره مرئیبان لرل چې یو شمیر یې د سرو زرو د ملاستنیو لرونکی او د

سرو زرو د پوښ لرونکې تورې ور سره وې. آسونو ټولو د سپینو زرو براقونه چې په ملغرو اوبدل شوي و درلودل. د رسمي سپرلۍ پر مهال به له مسعود څخه مخکې اتیا آسونه روان وو چې ډیرش یې د مرغلرو د براقونو لرونکي وو او پنځوس نور یې د سرو زرو د براقونو لرونکي وو. د مسعود بخششې هم ډیرې د لوړې بیې لرونکې وې. د بېلګې په توګه یوه ورځ یې ابو نعیم ندیم ته یو میلیون درهمو ته او یوه شپه یې شاعر علوي ته یو میلیون درهم ور وبښل. د اختر په یوه ورځ سلطان عنصري ته زر دیناره او نورو شاعرانو ته یې شل شل زره درهمه او سندرو ویونکو او مسخره ګانو ته یې دیرش دیرش زره درهم ورکړل. هغه یوه شپه بومطیع سګزي سوداګر ته شپاړس زره دیناره (سره زر) ور کړل او د خپلو پسونو او څارویو د چارو یوه کارکوونکي مانك علي میموني ته چې شپاړس زره پسونه یې ور سره وو او پنځوس زره دیناره باقیدار و، دواړه جنس او نغد ور وبښل. د مسعود بخششونه هیڅکله له بنځه سوه دینارو اولس زره درهمو څخه کم نو. خو هغه د خپل یوه پیل د مړه کېدو له امله د غزني په پیلوان باندې سل زره درهمه تاوان واړاو. په دې توګه به یې ناتوانه خدمتګاران له پښو غورځول. په هغه مهال کې په غزني کې د دولتي پیلانو د ساتنې لپاره زر غوجلې وې خو د کابل په پیلخانو کې یو زر او شپږ سوه او یا دولتي پیلان ساتل کېدل.

همدارنګه لویو مامورینو، درباریانو او روحانیونو او لوړ رتبه افسرانو ټولو کرنیزې ځمکې، باغونه، ودانۍ، اقطاع، څاروي، مرئیبان او وینځې او بیلا بیل سامانونه درلودل. د بېلګې په توګه د مسعود دبیر (منشي) طاهر د بلخ په شارستان کې لکه د جنت په شان یو سینګار شوی سرای درلود چې ډیر اوچت پرتّم یې درلود. په هغه کې مرئیبان، سندربول، ندیمان او خزانه لرونکی وو. هغه په ری کې په ۱۰۳۲ کې د خپل وزارت پر مهال، د شراب څښلو په مجلس کې د خپلې کوټې ځمکه د سرو او سپینو زرو د مسکوکاتو او د ګلانو په پانو پوښلې وه او په خپل سر یې د ګلدانو یو خول کېښودلی و. د سرو او سپینو زرو مشربې یې تر ملا تړلې وې او خپلو غلامانو او ندیمانو سره یې په ګډا پیل کړی و.

بوبکر حصیري د مسعود یوه ندیم دومره شتمنی درلوده چې حسین میونډي د سرو زرو دري سوه زره دیناره د پاچا لپاره ور څخه و غوښتل. همدارنګه وزیر حسنك شپږ سوه شخصي مرئیبان او په میلونو نو منقوله او غیر منقوله شتمني درلوده او یو ځل یې له نیشاپور څخه بلخ ته د پاچا لپاره یو سوغات راوړ چې پر پنځه سوه څارویو بارو. په خپله د احمد حسن میونډي نه لیږدیدونکي شتمني دیرش میلیونه درهمه کیده. نوموړی هغه مقتدر صدراعظم و چې د کشمیر له بندیخانې څخه تر را خلاصیدو وروسته تر بلخ پورې په هغه تخت روان (محفه) کې را وړل شو چې په دښتو غرونو او سیندونو کې د څارویو پر ځای د انسانو په اوږو راول شو. همدارنګه دده د دربار نورو لویو څېرو هم همداسې شتمني او ژوند درلود. په دې کې یو هم سهل حمدوي و. کله چې هغه په دې و پوهید. چې سلطان ورته په غوسه دی، نو ډیر ژر یې پنځوس زره دیناره سره زر د سلطان خزانې ته ورکړل. بونصر مشګان د سلطان منشي د ګرزیوان په پړاو کې لس زره شخصي میرې درلودې. او د مسعود په تخت باندې د کیناستو په ورځ یې یو سهل زوزني وړاندیز وکړ چې که بونصر مشکان مصادره شي، دري سوه زره دیناره (د دري میلیونه

ديناره) شتمني به ور څخه تر لاسه شي. خو مسعود وويل دومره شتمني د بونصر په شان سړي ته دومره ډيره نه ده. په خپله بوسهل زوزني د پاچا نديم و. کله چې هغه معتوب (ترغوسي لاندې راتګ) او مصادره شو. د هغه شتمني په بلخ، مرو، زوزن، نيشاپور، غور، هرات، بادغيس او غزني کې ټولې ونيول شوې. يواځې په بلخ کې د هغه د مرئيبانو شمير شپيته تنه وو. همدارنګه د محمود د دربار شاعر عنصري د سپينو زرو نغري او لوښې او د سرو زرو د ډوډۍ خوړلو لوښي کارول. دوی يوه هم ماليه نه ورکوله او ټولو سختو کارونو څخه عفو شوي وو. حال دا چې د ټولنې اکثريت وګړي اړ وو چې ماليه ورکړي او بيګارونو ته ولاړ شي او د سلطاني ښکار په ورځو کې حشرته ولاړ شي ترڅو ممتازه طبقه اعاشه کړي. خو دوی خپله ډيرلږ خواړه لرل. د همدې بدې ورځې له لاسه بزګرانو په ۱۰۳۴ کې د خراسان په جنوب کې يو لوی پاڅون وکړ.

البته په دغه ډول شرايطو کې امير مسعود نشو کولای د خپلو خلکو د ملاتړ وړ وګرځي. نو ځکه يې د اړتيا پر مهال يواځې او يواځې پوځ ته مخ اړاو. او که د پوځ ساتنه نه وای نور نو د دولت کار ختم و. يو مهال د مسعود کړو وړو دغه وسيله هم له کاره وغورځوله. د بېلګې په توګه بونصر مشکان د رسالت د ديوان رئيس ابو الفضل بيهقي ته داسې وويل: (خپلسري او عياش سلطان او ډارنو وزيرانو د لښکر تجربه لرونکی سالاران له منځه يووړل. نو وبه ليدل شي چې څه به پيښ شي)) هغه څه چې تر ټولو ړومبي پيښ شول هغه په خپله د همدغه با تدبيره سړي مړه کيدلو هغه يې د ميلمستيا په نوم په هرات کې په زهرو واژه. د هغه ټوله شتمني په خپله سلطان تر لاسه کړه. د ترکمانانو په پېښه کې هم همداسې وشول لس زره ترکمن سپاره چې ټولو آسونه او قمچينې درلودې. د طغرل او داود بيغور تر لارښوونې لاندې لکه باد غوندې له مروې څخه نسا ته راغلل او د مسعود له وسلو ډک پوځ يې يو ځل او بيا دوهم ځل له ماتې سره مخامخ کړ. په دې توګه په ۱۰۳۸ کې د نيشاپور په ښار کې د طغرل ترکمان پاچا په نوم خطبه ولوستل شوه. کله چې مسعود لومړی ځل له سلجوقيانو څخه ماتې وخوړه نو دومره يې لاس له پښو خطا وچې ډير ژر يې د هغوی استازی د سفير په توګه ومانه او دهستان يې داود ته، نسا يې طغرل ته او فراوه يې بيغو ته ورکړل او دريواړو ته يې دهقان، بخششونه، دو ښاخ لرونکی خولی، لوا، آسونه او د سرو زرو ملاوستني ورکړل. د سلجوقي ترکمانانو او مسعود ترمنځ دريمه جګړه په سرخس کې او څلورمه جګړه د مروې په لاره کې پيښه شوه، په دې توګه غزنوي سلطان له ماتې سره مخامخ شو.

په دې مهال د شمالي افغانستان ولايتونه له تخارستان څخه تر نيشاپور پورې ټول د سلجوقيانو په لاس کې ولويدل. خوارزم لا مخکې خپله خپلواکي اعلان کړې وه او ايران کې هم اړ دوړ پيل شوی و. دغو جګړو په پای کې د افغانستان کرنه، سوداګري او اقتصادي چارې له ډب او خنډ سره مخامخ کړې. د يو من ښخې ډوډۍ بيه له يو درهم څخه درې درهمو ته لوړه شوه او د پيسو ارزښت له يو درهم څخه يوه دانګ ته را ټيټ شو (شپږ دانګه يو دهزم کيدل).

مسعود غزني ته راغی ټولې خزانې يې واخيستې او مخ په هندوستان ولاړ. خو پوځيانو د لار په ترڅ کې شورش وکړاو په ۱۰۴۱ کې يې پاچا ونيو او بندي يې کړ او خزانې يې لوټ کړې او دده پر ځای يې ړوند کړل شوی امير محمد يې پر تخت کيناو. امير محمد نور هيڅ و نشو کولای، هغه صرف خپل ليونی ډوله

Scanned by CamScanner

خوی احمد په چارو و ګوماره. د احمد لومړني کار د مسعود وژل و. له دې وروسته فیوډالي سیالي کوونکي جنګونه پیل شول په دولت کې د لاس موندلو لپاره نور هم پراخه شول.

د احمد دغه کار د شاهي کورنۍ بې اتفاقي نوره هم زیاته کړه او د سلطان سپېڅلي دریځ یې د خلکو په نظر کې خوار کړ. دا ځکه چې مخکې تر دې د القایي ښودنو له مخې د پیړیو پیړیو په ترځ کې پاچا د خدای سیوري ګڼل شوي و. د خلکو په ذهن کې د پاچا د همدغه انځور له مخې هیڅ ددغه لوړ مقام په هکله ناوړه نیت نشو کولای. خو په خپله شاهي کورنۍ کې د یوه پاچا تیري په بل باندې نور دغه حجاب له منځه یووړ.

په هر حال: مودود بن سلطان مسعود له بلخ څخه راغی او د پېښور او جلال آباد ترمنځ لاره کې یې خپل رانده تره او د تره زوی سره جګړه پیل کړه او په جګړه کې بریالی شو. دا د خپل تره تېوله کورنۍ ووژله. له هغه وروسته غزني ته ولاړ او د پاچاهي پر تخت کیناست. خو دا مهال نور دولت ډېر ضعیف شوی و او مخالفین ډېر زړور شوي وو. نو ځکه په ۱۰۴۳ کې سلجوقیانو د پست پر ولایت باندې یرغل کړ او پنجاب پاڅون وکړ. په ۱۰۴۹ کې سلطان مودود مړ شو. په پلازمېنه کې د تاج او تخت دعوا لرونکي شهزاده ګان یو بل سره و نښتل او پاچا ګردشي پیل شوه. په پای کې امیر عبدالرشید بن محمود پاچا شو. خو لږ موده وروسته یوه صاحب منصب چې طغرل نومید. امیر عبدالرشید مړ کړ، خو لږ وروسته په خپله دې هم ووژل شو. په ۱۰۵۲ کې فرخزاد پاچا شو. په ۱۰۵۸ کې د فرخزاد له مړینې وروسته امیر ابراهیم نوي پاچا، له داود سلجوقي سره د یوې ژمنې له مخې تړول له لاسه وتلي ولایتونو لکه تخارستان، بلخ، مرو، هرات، او نیشاپور په رسمي ډول سلجوقي دولت ته ور پرېښودل. هغه د هغې جګړې په پای کې چې په ۱۰۷۲ کې د تخارستان د بېرته تر لاسه کولو په خاطر کومه ښه پایله تر لاسه نه کړه، نو له هغه وروسته یې مخ هندوستان ته وګرځاوه او په ۱۰۸۳ کې یې دوه- درې کلاګانې ونیولې ترڅو چې په ۱۰۸۸ کې مړ شو. له ده څخه ۴۰ لورګانې او ۳۶ امن پاتې شول. په دغو اولادو کې دده یوه زوی (درېیم امیر مسعود) تر ۱۱۱۴ پورې پاچاهي وکړه. له ده وروسته دده ځای ناستي ارسلانشاه ټوله کورنۍ تبا کړه. دده د میرمنې ورور بهرام چې د سنجر سلجوق خور یې و، د ورور د ظلم له لاسه خپل ماما ته پناه ور وړه، همدغه خبره سنجر ته د غزني د نیولو لپاره یوه بهانه شوه. سنجر په ۱۱۱۷ کې د شاهي حقونو د تر لاسه کولو په نوم په غزني یرغل وکړ او ارسلانشاه ته یې ماتې ورکړه او بهرامشاه یې پر تخت کیناو. په هغه ورځ باندې چې سنجر سپور غزني ته ننوت، بهرامشاه پیاده په پښو د هغه مخې ته روان و په دې توګه بهرامشاه ته خول (تاج) پر سر ور کېښودل شو. د غزني ودان ښار لوټ شو. د غزني په منبرونو کې د لومړي ځل لپاره د سلجوقیانو نوم په خطبه کې ولوستل شو. ددغو ټولو خواشینوونکو پېښو په ترځ کې ستاینوال شاعران را پاڅېدل او غوړه مالي یې پیل کړې. د بېلګې په توګه سید حسن غزنوي نامتو غوړه مال په یوه قصیده کې داسې وویل:

منادی بر آمد ز هفت آسمان

که بهرامشاه است شاه جهان

Scanned by CamScanner

در دربار نثر لیکونکو هم له قصیده سرایانو سره سیالي وکړه او د ځواکمن سلطان محمود پاچا القبونه يې دغه پاچا باندې کېښودل او داسې يې ولیکل: سلطان اعظم، یمین الدوله، امین الملته ابو المظفر بهرامشاه او نور. په هر حال؛ بهرامشاه د غور د امیرانو د کورنۍ یو تن چې قطب الدین محمد نومید، وواژه. دغه سړی د غزني په دربار کې ژوندکاو. دده وژنې د غور سوري کورنۍ په غوسه کړه. نو سیف الدین سوري د قطب الدین ورور چې د غزنوي دولت له ضعف څخه خبر و . د کسات اخیستو په دود لښکر جوړ او بهرامشاه يې تر هندوستان پورې وځغلاو. بهرامشاه بیرته په ژمي کې راستون شو دا مهال د غور لارې بندې وې او بهرامشاه و کولای شول چې غزني ونیسي او سیف الدین يې وواژه علاؤالدین حسین غوري غزني باندې یرغل وکړ او په ۱۱۴۸ کې يې بهرامشاه له واك څخه و غورځاو. تر څو چې په ۱۱۵۲ کې په بده ورځ مړ شو

علاؤ الدین حسین چې غزني ونیو هغه ته يې اور واچاو او دغه د منځنۍ آسیا د ښارونو ناوي يې له خاورو سره خاورې کړه. کله چې بیرته غور ته ستنیده تولې ودانۍ يې له غزني څخه نیولی تر بست پورې ورانې کړې، د خپل کور په سوځولو سره خلکو علاؤ الدین ته (جهان سوز) نوم ورکړ. د جهانسوز له پېښې څخه وروسته د بهرامشاه زوی خسرو شاه په ۱۱۴۹ کې پاچا شو، خو دغه پیړۍ په ایران او د افغانستان په ودانو ښارونو باندې د منځنۍ آسیا د پوونده خلکو د یرغل کلونه وو. دا د فیوډالي جګړو موده وه. لکه هماغسې چې په ماورالنهر کې ایلك خاني ترکان د ساماني دولت پر ځای راغلل، همداسې هم سلجوقي ترکمانان په ایران او افغانستان کې د غزنوي دولت پر ځای راغلل. د هجرتونو او یرغلونو لړۍ لا روانه وه. په دې مهال د ماورالنهر له ختلان څخه حشم غز را پاڅید او سلجوقیانو پسې را وخوځید او سلطان سنجر سلجوقي ته يې ماتې ورکړه او بندي يې کړ. غزان وروسته تر دغه بریالیتوب څخه غزني ته یو لښکر ولیږ، د غزنویانو وروستی پاچا خسرو يې تر لاهوره پسې واخیست، هلته خسرو او د هغه زوی خسرو ملك تر ۱۲۰۱ پورې لنډ غونډې حکومت وکړ. خو غزان د غزنویانو وروستۍ نښې هم له منځه یوورې ترڅو چې غوري ځواکونه راغلل غز يې له غزني څخه او غزنویان يې له لاهور څخه د توري په زور پاك ورك کړل. په دې توګه د غزنویانو دولت د تیر تاریخ یوه برخه شوه

Scanned by CamScanner

# پينځم
## له لسمې څخه تر دولسمې پېړۍ پورې د افغانستان ټولنيز وضعيت

په لسمه او دولسمه پېړۍ کې چې د غزنويانو د دولت له دورې سره برابره وه. ټول ټولنيزې چارې د منځنيو پېړيو د بشپړ تيا وروستي پړاوونه وهل. کرنه او اوبه لګول پرمخ تللې و. د اوبو بندونه جوړ شول، صنايع او پيشه ورۍ، په تيره بيا نساجي او فلزکاري ترقي کړې وه. آرت او هنر لوړې پوړۍ ته رسيدلي وو. يو شمير ادبي شهکارونه په دې دوره کې را منځته شوي وو. لوړې ودانۍ جوړې شوې وې. د افغانستان لرې ښارونه لکه بلخ، هرات، کابل، مرو او نيشاپور د منځنۍ آسيا لوی سوداګريز ښارونه وو. يواځې بلخ دوه سوه زره تنه نفوس درلود. د وريښمو لويه لاره چې څه برخه يې د غزنوي دولت له سيمو څخه تيريدله، تل د لويو لويو کاروانونو د تګ راتګ څخه ډکه وه او چين يې له مديترانې سره تاړه. سوداګريزې لارې په امن کې وې او کاروانسرايونه ټول ودان وو. دغو کاروانونو د افغانستان، ايران، چين او هند، ترکستان، عراق مصر او شام مالونه وړل را وړل. د هغوی په مالونو کې رختونه، عطر، مرئييان، څاروي، درمل، فلزي سامانونه، وسلې، قيمتي ډبرې، مسين لوښي، کاغذ، وړۍ، پوستکي، څرمن، دانې، ډيوه او غوړي وو.

بادي ژرندې، د اوبو ژرندې او د اوبو را ايستلو څرخونه (ارهټونه) وو. وربشې، غنم، وريجې، پنبه، انګور، مميز، بادام، پوخه، سرکه او شراب جوړيدل. د کرنې ترڅنګ غالۍ اوبدل رخت جوړول. فلز کاري، وسله جوړول، صابون او لوښي جوړول ښه پرمخ تللي وو. تر يوې اندازې پورې د سپينو زرو او سرپو کانونه پکار اچول شوي وو. په لويو ښارونو کې يو من د غنمو ډوډۍ (غنمينه) يو درهم بيه درلوده، حال دا چې د لوړ حاصل لرونکو کليو کې اوه منه غنم په يو درم وو. د لويو ښارونو ترڅنګ يو کولبه ښه کرنيز ځمکه په زر درمو پلورل- پيرودل کيده. د زرګرۍ، پښګرۍ، ترکاڼي، ودانۍ، جوړولو صنايع، تورل، آبنوس کاري او انځورګري په ښارونو کې ښه پرمخ تللي وو. د غزنويانو په دوره کې موسيقي هم ښه ځليدلې وه. په دربار کې او د هېواد د لويوستو په غونډو کې به تل سندرغاړي له طبلې، دف او تار سره ناست ول. ښځينه او نارينه ګدا د هېواد په ټولو ولايتونو کې پام را اړولی و. له بلې خوا د دولت سازمان منظم او نظامي او ملکي تشکيلات، په تيره بيا مالي او قضايي چارې او په تيره بيا جاسوسي چارو ښه پراختيا موندلې وه. جوماتونه او مدرسې له زياتو اوقافو سره يو ځای په ټولو ښارونو کې ودان وو چې د تحصيل مرکزونه ګڼل کيدل. نامتو څيرې لکه فردوسي او ابو ريحان په غزني کې ژوند کاو. د غزني ښار په ټوله منځنۍ آسيا کې د دري ادب زانګو وه. دلته يو شمير شاعران لکه عنصري فرخي، سنايي، اسدي مسعود سعد، ابو الفرج او سيد حسن روزل کيدل. تورل شوي شوکانې

Scanned by CamScanner

او مرمر، د ماڼیو ګچ بري، انځورونه ایستل، فلزي لوښي جوړول او خلا لرونکې کاشي، توړل شوي انځوریز لرګي، د غزني خلي، د بست تاق او نور په دې دوره کې جوړ شول چې لا اوس هم د غزني د صنعت او ودانۍ جوړول د هنر د لوړتیا نښې بلل کېږي په داسې حال کې چې په فرانسه کې کوتیل ودانۍ جوړول، چې تر رومن ودانۍ جوړولو ښکلي و، لا تر دې وخته پورې نه وه را منځته شوې. کوتیل سبك صرف د دولسمې پېړۍ په پای کې را منځته شو. په دغه دوره کې د غزني ښار ارګ (کهندز) درلود چې د ښار په منځ کې و او شاوخوا یې لوړ دېوالونه او بهر له هغه څخه هټۍ او بازارونه وو. کورونه د لرګیو وو چې په رنګه آجرونو ښکلي کېدل او د مصر د موزائیك بڼه یې درلوده. د ښار هغه سیمه چې اشراف پکې اوسېدل د دولسمې پېړۍ تر نیمایي پورې هم ډېره ښکلې وه. د سلطان محمود غزنوي پر مهال په غزني کې یو لوی کتابتون و او هم ځو ځو د اوبو بندونه جوړ شوي وو چې یو یې (بند سلطان) و دغه بندونه د تیموري بابر شاه تر مهاله په غزني کې جوړ- روغ وو

په دغو وره کې اسلامي فقاهت او عرفان هم خپل لوړ پوړ ته رسېدلی و. په فقه کې یو شمېر داسې علما لکه امام صعلوکي، آل تبانیان او قاضي صاعد. په تصوف کې ابو سیعد ابي الخیر، ابوالحسن خرقاني، یحیی سنجري، ابو عبد الله طآقي او عبد الله انصاري او همدارنګه نامتو مؤلفین لکه ابو سلیمان خطابي، ابو منصور ثعابي او ابن عبدالرحمن سلیمي موندل کېدل. فقها د دولت د درناوي وړ وو او په دولت کې یې په چارو کې سیده برخه درلوده دوی بهر کې سفارتونو ته استول کېدل او په مهمو چارو کې دولت سلا- مشوره ورسره کوله. دوی د شهزاده ګانو ښوونکي ول. قضاییه قوه هم د دوی په لاس کې وه، له پوره مادي او تشریفاتي امتیاز څخه برخمن وو. د بېلګې په توګه یو له دوی څخه د ابو صالح تباني چې کله په ۱۰۰۹ کې مړ شو، غزنوي سلطان محمود خپل صدراعظم اسفرایني ته دنده وسپارله چې د هغه مدرسې ته ورشي او د دعا په مجلس کې یې برخه واخلي. سلطان وویل (ما خپله په خپله دین او عقیده کې غوښتل د هغه دعا ته ورشم، خو بیا څوك زما دې کار ته ګوته و نه نیسي)

د دربار د ندیمانو له ډلې څخه چې وروسته ترو زیرانو یې لوړ دریځ درلود همدا فقها وو او په لویو چارو کې یې مهم تاثیر درلود. د بېلګې په توګه فقیه عبدالملك توسي د غزنوي سلطان محمود یو ندیم و او فقیه نوح ندیم د امیرزاده سعید د ندیم په توګه مقرر شو. قاضي صاعد نیشاپوري چې د امیر مسعود د کوچنیوالي ښوونکی و، د ولایت په رسمي چارو کې یې لاس واهه او د دولت والیان په مهمو چارو کې د هغه سلا ته اړوو (ندیمان دوه ډلې وو: خاص ندیمان او بهرني ندیمان. خاص یا خانګړې ندیمانو به د پاچا په خانګړو او خصوص مجلسونو کې ګډون کاو او د پاچا خانګړي مشاورین او مصاحبین وو، بهرني ندیمان یواځې په عمومي او رسمي مجلسونو کې راتلل)

خو په غه دوره کې عقلي علوم، فلسفه او الهیات په ټپه و درېدل. تقلید او ظاهري شیانو د تحقیق او علمي څېړنې او د فکر د زادي په پرتله لوړتیا موندلې وه. تحجر او تقشر په اسلامي سرکش عرفان کې هم ریښې وځغلولې، نو ځکه نقلي علوم مرجع و ګرځېدل او همدا د دولت د سیاست په چارو کې په کار تلل. دغه ډول کړنلاره د ښوونې او روزنې لپاره هم بنسټ و ګرځول شوه. ښوونه او روزنه عقیدوي زدو

Scanned by CamScanner

لاندې بنده پاتې شوه. آن داچې یوه فاضل لیکوال او تاریخ لیکونکی ابو الفضل محمد بن حسین بیهقي په هغه خطبه کې چې د غزنوي سلطان مسعود د تاریخ په سریزه کې یې لیکلې، داسې ویلي دي: ((پوه شه چې الله (ج) هغه قوت چې پیغمبرانو صلوة الله علیهم اجمعین ته ورکړی، او بل قوت یې پاچا ته ورکړی او د ځمکې د مخ په خلکو یې واجب ګرځولې ده چې باید همدغو دوو قوتونو پورې وتړلي او ریښتیاني خدایي لاره همدا ده. او هر هغه څوک چې هغه له کواکبو او فلك او بروجو څخه وګڼي، خدای یې هیر کړی او هغه به معتزلي، زندیقي او دهري وي او ځای به یې په دوزخ کې وي، نعوذ بالله من الخذلان.)) حال دا چې معتزله په اسلامي فرهنګ کې ډیر وړاندې او اوچت ول، دا ځکه چې وروسته د اسلام له راتګ څخه او کله چې عربو واك و موند، د یوې پیړۍ په ترڅ کې ګڼ شمیر تمدنونو، علوم، دودونه او ادیان یو بل سره نږدې او آشان شول او همدا خبره د یوه پراخ تمدن او نوی فرهنګ د رامنځته کیدو لاره هواره کړه. ددغه نوي تمدن جوړیدو په اسلامي هیوادو کې یو لوی فکري غورځنګ را پیدا کړ. دغو غورځنګونو بیلا بیل ټولنیز اړخونه لرل چې په سیاست، مذهب، فلسفه او هر بیلا بیل اړخ کې را څرګندیدل، په سیاست کې، د عربو تر واك لاندې ملتونه، د عربي خلافت د تبعیض، تحکم او استبداد پر ضد و او د ملي خپلواکۍ د تر لاسه کولو لپاره یې مبارزه کوله. په دغه مبارزه کې څینې وخت له اشرافي پلوه ممتازه یا لوړه طبقه په سر کې وه او لاربنوونه یې په غاړه درلوده. مبارزو او پاڅونونو ملي او دهقاني بڼه درلوده او د عربو او فیوډالانو، دواړو په ضد رواني وې. د همدغو ملي او بزګري مبارزو په لړ کې بیلا بیل فکري مکتبونه جوړ شول

په دغو طریقو کې تر ټولو مخکښه (شعوبیه) طریقه وه چې د عربو امتیاز یې نه مانه او د عجمو (ناعربو) قومونو او عربو ترمنځ یې د مساواتو شعار درلود. ددغه مکتب یا نظر یې پلویان د بیلا بیلو ملتونو غړي وو چې له اموي دولت څخه ډیر خوړیدلي وو او دوی د عباسیانو په دوره کې را څرګند شول. سره له دې چې عباسي دولت د تابعه ملتونو له اعیانو او اشرافو سره روغه وکړه او له عربو سره یې هم خپلو اړیکو ته دوام ورکړ، خو بیا هم د بزګرانو مبارزې له کورنیو فیوډالانو او عباسیانو سره دوام درلود. خو د فلسفې او مذهب په برخه کې زیات شمیر مکتبونه موجود و. دغه یو شمیر یې په مذهب کې ډیر افراطي وو لکه (ازارقه) چې ګنهګار به یې مشرك باله او له اولادونو سره به یې واجب القتل باله اګر که ده به صغیر ګناه هم کړې وه. د دې پسې یوه بله ډله راغله او ددوی نظریات یې اصلاح کړل. دوی وویل چې د صغیر ګناه مرتکب باید اعدام نشي، بلکې د کبیره ګناه تر سره کوونکي باید اعدام شي. په دې پسې (مرجیه) فرقه راغله، دوی ویل په ګناه اخته کیدل ایمان ته کوم زیان نه رسوي (مجبره) بله فرقه وه. هغوی ویل چې انسان هم په خپل ښه او په خپل بد کار کې مجبور دی. وروسته (قدریه) فرقه راغله او ویل یې چې انسان په خپل فعل او علم کې آزاد دی، نه مجبور. ددې ټولو ترڅنګ نورې فرقې هم پیدا شوې چې له هغو یو شمیر یې مذهب پریښود او پرته له مادي او احساس کیدونکو شیانو څخه بل شي ته یې پام نه کاو لکه جنابیان، راوندیان، طبیعیون، زنادقه او مانویان. دغه وروستۍ فرقې د اسلامي دولتونو او علماوو له خوا زندیق او ملحد وبلل شوې او له منځه ولاړې

د اسلام په دین کې یو شمیر مکتبونو د یو ډول ریفورم غوښتونکي شول چې دوی دغه مفهوم او معنا له قرآن څخه اخیستی وه لکه باطنیه او فاطمیه او نور له دغو څخه ډیر مهم یې معتزله ډله وه چې نامتو امامان، مولفین او بیلا بیل آثار یې درلودل معتزله نامتو پوهان دا وو ابراهیم بن یسار، ابو عثمان عمر، بن بحر جاحظ (تکړه ادیب او د طبیعي علومو فلیسوف ۸۲۹ مړ)، ابو علي جبایي، ابو هاشم بصري (۹۳۳ مړ)، ابو القاسم بلخي، جار الله زمخشري، عبدالحمید بن ابي الحدید. دوی له نهمې څخه تر دولسمې میلادي پیړۍ پورې تیر شوي. د اعتزال مذهب د عقلي نظر پر بنسټ ولاړ و او فلسفه او کلام یې یوه برخه وه. معتزلیانو ځانونه د توحید او عدل لارویان بلل او د خپلو عقایدو د تثبیت لپاره یې (علم کلام) ډیر کارا و. په اصل کې د کلام علم لکه قرائت، تفسیر، حدیث او فقه د شرعي علومو یوه برخه وه. لکه هغسې چې فقه د شرعي احکامو له عملي فروعو څخه بحث کوي او په قرآن او حدیثو مستند او ولاړ دی. د کلام علم د شرعي د عقیدې او ایمان له اصولو څخه بحث کوي. چې په دې بحث کې عمل په پام کې نه دی بلکې ایمان او عقیده بحث کې شامله ده. البته متکلمین د ایماني عقایدو د اثبات لپاره عقلي دلایل وړاندې کوي او کفر او زندیقه رټي. نو کلام د شرعي چارو د تحقیق څرګندوونکی و نه د هغه ضد. دغه علم هم هماغومره اعتبار درلود لکه فلسفې چارو کې چې منطق درلود، خو له فلسفې سره یې توپیر درلود

دا ځکه چې فلسفه کې د اسلام له شریعت څخه بحث نه کېږي، حال دا چې کلام د واجب الوجوب ذات د صفاتو، نبوت، د ممکناتو له احوال، له مبداء او معاد څخه د اسلام له شریعت سره سم بحث کوي. البته کلام له یوناني فلسفې، اسکندرایي نظر یې او نورو څخه اغیزمن و. معتزله متکلمینو د خدای (ج) په عدل عقیده درلوده او انسان یې د ښو او بدو کارونو په تر سره کولو کې مختار فاعل ګاڼه او د خپلو اعمالو مسئول بلل کید. هغوی عقل د خیر او شر تمیزکوونکی باله او ښه او بد او د هغو توپیر کول یې عقل پورې تړل، نه اوریدو پورې. معتزله وو به ویل چې شرعي امر او نهي هم پر عقل ولاړ دي

د هغوی په عقیده د الله (ج) فعلي افعال پرته د بل هیچا له ګډون او شرکت څخه دي، جهان حادث دی نه قدیم. د اپلاتون فلسفه هم همداسې یو څه وه. نو ځکه د اعتزال فلسفه په ختیځ کې په اسلام کې پر مخ ولاړه او خپره شوه. ابو الهذیل چې د نهمې پیړۍ په نیمایي کې مړ شوی و د معتزله یوه پیژندل شوی څیره وه، ویل یې صفت د شکل په بڼه په ذات کې نه ده. بلکې په خپله ذات دی او خالق تعالي په پوهې سره دانا، په ژوند سره ژوندی او په قدرتو سره توانا دی، یعنی د الله پوهه، ژوند او توانایي د هغه ذات دی او دغه دري واړه د خداوند (ج) د ذات وجوه دي. معمر اعتزالي په نهمه پیړۍ کې یو بل تن و چې صفتونه یې نفي کول او وجود یې د تام او تمام وحدانیت منافي باله. په هر حال د اسلامي هېوادونو روښاندي زیاتره معتزله طریقې سره یو ځای شول او یو شمیر ساماني پاچاهانو په خراسان فاطمي پاچاهانو په مصر کې او عباسي خلفا وو په عراق کې (تر نهمې پیړۍ پورې د الواثق تر وخته) معتزلیانو څخه ملاتړ وکړ

له معتزله څخه وروسته بل مهم فکري مکیت د (اخوان الصفا) مکتب و چې دین یې له طبیعي فلسفې

Scanned by CamScanner

سره پخلا کاو. دوی په بیلا بیلو علومو کې بیلا بیل آثارو لیکل. اخوان الصفا یو پټ علمي جمعیت او سازمان و چې د لسمې پیړی په نیمایي کې په بصره او بغداد کې فعال و او په خپل وخت کې یې په بیلا بیلو علومو کې پنځوس رسالې پرته د نوم له ښودلو لکه د دایرة المعارف په شان خپرې کړی. داسې اټکل کیږي چې د هغو له لیکوال څخه یو تن د افغانستان و چې نوم یې ابا سلیمان محمد بن معشر بستي و چې په المقدسي سره پیژندل کید. دوی دا هڅه کوله چې دیني دساتیر له طبیعي فلسفې سره پخلا کړی او توافق ورکړي او یوه دیني فلسفه را منځته کړي. د دوی مذهب له بیلا بیلو مذهبونو څخه اخیستل شوی و. دوی د شریعت، فلسفي، علم او صفت، ریاضي منطق، خدای، نړی، انساني نفس او نورو موضوعاتو په هکله خبرې وکړی. دوی وویل چې یو عقلي دین شته چې تر ټولو مذهبونو اوچت دی. دوی په خپلو کړو وړو کې ډیر پرهیزګاره (پارسا) وو او یو کامل انسان (بشپړ وګړی) یې داسې تعریف کړی و: نسب پارسي، دین عربي، آداب عراقي، اخبار عبراني، شیوه مسیحي، پرهیز شامي، پوهه یوناني، بینایي هندي، سیرت صوفي، معارف الهي او داسې نور. فقها د اخوان الصفا په ضد و دریدل دا ځکه چې هغوی قرآن د خپلې موخې سره سم تاویل او معنا کاو. د ارستو د مذهب تلونکی هم له دوی سره مخالف وو، دا ځکه چې هغوی د اپلاتون او فیثاغورس نظریاتو ته میلان درلود. مستبده او ظالم حکومتونه د دوی یو بل دښمن و، په دولسمه پیړی کې د بغداد خلافت د اخوان الصفا رسالات، لکه د ابن سینا د آثارو په شان وسوځول نو ځکه د دوی آثار ټول له منځه نه ولاړل. بلکې په یو شمیر اسیایي هیوادو کې یې اغیزه وکړه، وروسته یې په لویدیځ کې هم لار وموندله، لکه هغسې چې یوناني حکمت په ختیځ کې خپور شوی و، هغسې هم دغه فکري مکتب چې بغداد کې و رټل شو، په اسکندریه، مصر او شمالي افریقا کې ځای وموند. له هغه ځایه بیا هسپانیا ته ورسید او د اروپائیانو د را ویښیدو لامل شو. البته اروپا د هسپانیا د اسلامي خلافت (د قرطبه دولت) له لارې له علومو، نجومو، جبر، کیمیا، د اسلامي او یوناني فیلسوفانو له تالیفاتو، د ارستو، بطلیموس، ابن سینا، ابو معشر او نورو له لیکنو سره آشنا شوه او د اوسنیو ارقامو سلسلې او د اروپا یو شمیر لغات د عربي ژبې د تجربې زیږنده دي او د دوی د ریاضي او نجومو څخه یې رڼا اخیستې. په دې توګه اسلامي قرطبه د مسیحي اروپاییانو د تحصیل مرجع وګرځیدل.

خو یو شمیر وګړی د جهل، تقلید، تعصب، شخصي ګټو او په ټولنه باندې د واکمنو طبقاتو د غرضونو او منافعو په خاطر د دغو غورځنګونو په وړاندې را پاڅیدل نو درې سوه کاله ددغه ډلو تر ګوزارونو لاندې وو، تر څو چې بیخي له منځه ولاړل او یا یې بڼې بدلون وموند. فقها ددغو فکري غورځنګونو تر ټولو لوی دښمنان وو دوی علم او فلسفه د شریعت ضد ګڼل، دوی فقط په ظاهري شیانو تکیه کوله او نړی یې د خپل فکر په سیوري کې پرته د تغییر، بدلون او تحول له منلو بشپړه بلله. د (اشاعره) فرقه چې په خپله له معتزله غورځنګ څخه روزل شوي وو د علم او منطق پر ضد را پاڅیدل او په نهمه پیړی کې یې ارتجاعي جګړه پیل کړه. دوی ویل چې د فعل کاسب بنده او د فعل فاعل خدای دی، نو ځکه یې د انسان مختار فاعلیت په عمل بې سلب کاو او ښه او بد یې سمعي بلل، نه عقلي. (مجبره) ډلې تر دې هم

Scanned by CamScanner

بد تر فکر درلود او د انسان لاسونه، پښې او ماغزه یې د نا محدوده جبر په زنځیرونو کې تړل او انسان یې د هرې پیښې په وړاندې تسلیم او رضا ته او صبر او قناعت ته اړ ایست دغو طریقو او القاګانو غوښتل چې خلك د سکون حالت کې وساتي او د مجوده حالت د ساتلو لپاره یې خدمت کاوه. نو طبیعي خبره ده چې دوی د طفیلي او ذینفع طبقاتو د ملاتړ ور ګرځیدلي و کومو چې د اکثریت وګړو له کار او زحمتونو څخه آرام ژوند درلود. په تیره بیا مستبده دولتونو چې په خپلو اعمالو کې مختار او غیر مسئول وو، او د خلکو له خوا د پاځونونو د ډاډګیرنې لپاره یې دغه ډول تعالیمو ته کلکه اړتیا وه دوی یې ملاتړ کول او دغو افکارو د حاکمه طبقې ښه او بد اعمال ازلي او آسماني بلل
تر ټولو زیات په بغداد کې چې د اسلامي تمدن او فرهنګ مرکز و، دغه کړه وړه لا زیاته شروع شوه او په نهمه پیړۍ کې متوکل عباسي د متعصبو ډلو په پلوي علمي مناظره او یو مذهبي جدل ممنوع کړ وروسته بیا نورو ذمي او نصراني علماوو ته د ځانګړو پټکیو او جامي د اغوستلو سپارښت وشو. معتزلیان هم تعقیب شول او ورو ورو له بغداد څخه ایران او افغانستان ته را وتښتیدل او پنا یې واخیسته په لسمه پیړۍ کې خوان الصفا له علومو او فلسفې سره یو ځای د خلافت له مرکز څخه وشړل شول په دې توګه د علماوو ځای فقها وو او اشعري متکلمینو ونیو خلکو له تحقیق، علم، فلسفې او پوهې سره د ضد لاره ونیوه او د تقلید شیوه رواج شوه، دا څکه چې علم او فلسفه د دین او شریعت مخالفه اعلان شوې وه. علما تکفیر شول او آزادي غوښتونکي زندیق و بلل شول او د فقهې امامانو د کلام علم حرام وباله او متکلم یې په تشهیر او د درو په وهلو محکوم کړ.
دا یواځې په عباسي خلافت کې نه، بلکې په همدې لسمه پیړۍ کې په اندلس کې هم د اموي خلیفه الحکم بن الناصر کتابتون وسوځول شو یواځې د حساب، لغت فقهې او طب څو کتابونه پاتې شول او یو شمیر کتابونه په ځاګانو کې خښ شول. د منځنۍ پیړۍ په اروپا کې علمي او مذهبي وضعیت تر دې هم بدتر و چې له اسلامي هېوادو سره هیڅ د پرتلې وړ نه و. د عقایدو تفتیش او د انکیزیشن [1] محکمه او د ژوزوتیانو او کالوني کلیساګانو کورني مذهبي جګړو زور اخیستی و او د اروپا په دغه دوره کې د زیات شمیر بې ګناه خلکو وینې و بهول شوې او ودانۍ ورانې شوې. په دولسمه میلادي پیړۍ کې لومړي فرید ریك د پاپ پښو ته ځان واچاو تر څو دده سلطنت بیرته تر لاسه کړي او د دیارلسمې پیړۍ په پیل کې په فرانسه کې د آلبیانو مذهبي وژنو ۲۰ کاله دوام وکړ چې په دې ترڅ کې په زرګونو خلك ژوندي ژوندي د خلکو تر مخې په اور کې وریت شول، دا څکه چې صلیبیانو نه غوښتل چې د محکوم وینه پر ځمکه توی شي. د کلیسا دغه ظالمانه چلند او دغو دولتونو څو پیړۍ دوام و موند. په شپاړسمه میلادي پیړۍ کې د ستورو او آسماني دغو نډارو د ګرځیدو په هکله د کوپرنیك کتاب د مذهبي متعصبینو له خوا تحریم شو. نامتو ګالیله مجبور شو چې د ټولو خلکو تر مخې له خپل ډیر مهم کشف څخه توبه و کاږي او د یوه مجرم په تتوګه په ګونډو شي. ایتالوي جودانو پرونو چې ویل یې: نړۍ بې نهایته ده، لمر یواځې زموږ د منظوي مرکز دی نه د ټول جهان. اته کاله په زندان کې واچول شو. د ناتت

---

[1] - Inquisition

Scanned by CamScanner

انجمن علمي خېرنې لویه ګناه و بلله او ضاله کتابونه یې په له منځه وړلو محکوم کړل

په هر حال، په غزنوي افغانستان کې هم لکه د نورو اسلامي ملکونو په شان ورځ په ورځ د فقها وو دریځ کلکېد او د نویو مسلمانو شویو جګړه مارو او پخوانیو پوونده خلکو په طبع برابر وو. د غزني او بغداد ډېرې نژدې سیاسي او مذهبي اړیکې او د اسلامي خلافت د مقام د معنوي تشریفاتو په پام کې نیولو په دې برخه کې ډېره اغېزه درلوده. په داسې حال کې چې د بغداد خلافت په یوه علمي ارتجاع کې ډوب شوی و او ټول سیاسي او فرې آزادي غوښتونکي د (خوارجو) په نوم ټکول کېدل او خوارج له زندیق او ملحد سره په یو کتار کې شمېر کېدل او تکفیر کېدل. په تېره بیا د باطنیه یا فاطمیه طریقې چې د مصر د فاطمیانو پلویان وو او د مصر فاطمیه اسلامیه خلاف وو د تمدن او فرهنګ په وده کې په خپل نامتو کتابتون سره مخکښ رول درلود او په سیاست کې د بغداد یو ځواکمن سیال و. نو دغو خوارجو په بغداد کې ښه ورځ نه درلوده او د بغداد د کرکې وړ وو. د دوی طریقه یو انتخابي جمهوریت و او حقوقي مساوات. ساده دربار او اسلامي تقوا یې شعار و. ناراضه او محرومو خوریدلو خلکو چې د دولتونو له تبعیض او درنو مالیاتو څخه نالښت کاو هم غوښتل چې یو بدلون راشي، نو ځکه د خوارجو خواته را تلل او سیاسي پاڅونونه یې پیل کول. یو شمیر نورې ډلې هم وې چې په مصر او شام کې اسمعیلیه او په افغانستان، ماورالنهر او ایران کې قرامطه بلل کېدې. په ځینو ولایتونو کې همدغه قرمطیان د باطنیه په نوم هم یادېدل. په افغانستان کې قرمطیان به نهه میلادي پېړۍ کې را پیدا شول. دوی په یوناني، مصري او د صائیبنیو په علومو پوهېدل او په عربي یې ژباړې کړې وې. د دوی پټځای په عراق کې د کوفې ښار چې د دغه ښار په لویدیځ کې د (دار الهجرة) په نوم یادیدو دوی یو پټ سازمان هم درلود او په مهمو چارو کې به یې په هغه غونډه کې چې: ملت استازې بلل کېده یو بل سره مشورې کولې. دوی به خپل افکار هر ځای تبلیغ کول او زیاتره به یې د بزګرانو په جلبولو کې هڅه کوله. کله به یې هم مهمو علمي او ادبي او سیاسي څیرو کې خانته مینه وال موندل او د هغوی منځ کې به یې ځای موند او هلته به یې د تعصب او استبداد پر ضد فعالیت کاو. د دوی پلویان په یمن او سوریه کې ډېر زیات ول ورو ورو یې ساماني دولت کې اغیزه زیاته شوه آن دا چې ویل کیدل چې امیر نصر بن احمد ساماني په خپله او نامتو شاعر رودکي دواړه قرمطیان دي. دوی آن دا چې په بحرین کې یو داسې سیمه ییز او خپلواک حکومت جوړ کړ چې له خلکو څخه یې ډېر لږ مالیه اخیسته او کروند ګرو سره به یې مرستې کولې او له ښار څخه به یې د شتمنیو د وتلو مخه نیوله. په ملتان کې (لودی) حکومت د قرمطیانو د افکارو خپروونکی و، نو سلطان محمود غزنوي د لودیانو حکومت په همدې نامه له منځه یووړ. هغه په ټول ایران او افغانستان کې چې د قرمطي نوم اوریدل کید هغه به یې سنګسار او له منځه وړل او هغو کتابو باندې به یې چې په دې نوم شك راغی هغه به یې سوځول. د قرامطه وو په ځکله د سلطان محمود کړنلاره او چلند د قرمطیانو په هکله چې ځانونو ته یې د تعلیماتو نوم ورکړی وو او یو بل ته یې رفیق (ملګری) ویل، نه یواځې دا چې له سیاسي پلوه ډېر له غوسې او شدت څخه ډك و، بلکې د مذهبي عقیدې له پلوه هم ډېر شدید و. دا ځکه چې محمود شفاعي مذهب غوره کړی او د شافعي

روش چې له څلورو مذاهبو څخه یو مذهب دی، د متکلمینو په هکله ډیر سخت و او د کلام د ډلې وګړي یې په درو وهل او تشهیرول یې. حنبلي مذهب تردې هم تیرو، متکلمینو ته یې زندیقي ویل او د کلام علم یې جرم باله. دوی ته یې ښکه باطنیه ویل چې دوی قرآن ته په یوه باطن هم قایل وو چې هغه باید تاویل شي، نو ځانونو ته یې ښه مسلمانان او په قرآن باندې ډېره لګوونکې ویل. په ۱۰۱۲ کې د غزني دربار ته د مصر د فاطمي دولت یو سفیر د «تاهري» په نوم راغی، په نیشاپور کې په هغه تور ولګید چې دا سړی د باطنیه په طریقو کې دی. نو سلطان محمود هغه په یوه مذهبي محکمه کې چې له متعصبو ملایانو څخه جوړه وه، هغه په اعدام محکوم کړ. د محمود ځای ناستي سلطان مسعود هم همدا عصبیت درلود او په لومړي ګام کې یې د بغداد له خلافت څخه هیله وکړه چې د افغانستان په شاو خوا کې د قرمطیانو د ټکولو په خاطر دده پوځي سوقیات جایز و بولي د بغداد خلافت هم ډیر ژر داسې منشور ورته ولیږ، خو اسمعیلیه چې یو مهال په مصر کې ډیره پرمخ تللې وه او بیا یې د نامتو دانشمند حکیم ناصر خسرو بلخي په شان یو شخص یې د استازي په توګه درلود، نو کله چې د ایران په الموت کې ځای پر ځای شو، د سلجوقي دولت په وړاندې یې په ترور لاس پورې کاو او د هېواد مرکزیت یې ولړزاو چې ورو ورو مخ په ځوړ ولاړ.

د غزنویانو پر مهال افغانستان کې چې د ادبیاتو، هنر او ښکلو صنعتونو دوره وه او علوم نقل کیدل، ورو ورو فلسفه او پوهه په ټپه ودریده، که څه شي و هم ټول د پخوانیو دورو څخه پاتې وو. همدا لامل و چې د هغه مهال نامتو پوه ابن سینا او آن ابو سهیل مسیحي د افغانستان د مقتدر پاچا سلطان محمود غزنوي بلنه و نه منله او د غزني پر ځای له خوارزم څخه د آل بویه کوچني دربار ته ورغلل. که ابوریحان دغه بلنه منلې هم وه، خود ژوند تر پایه پورې چپ واو هغه ټوله پوهه یې چې د اسلام، هند او یونان له فلسفې څخه لرله ددغې پوهې په هکله یې هیڅ و نه ویل. دا ښکه چې د افغانستان په مدارسو او درسي کړیو کې پرته له دیني علومو څخه او ادب له هغې برخې څخه چې د دین معارض نه بلل کید، نور څه نه تدریس کیدل. دا فقها وو چې له قضا سره یو ځای یې علمي مرکزونه هم نیولي وو، دوی د ټولو عقلي علومو په ضد وو په تیره بیا د فلسفې او الهیاتو پر خلاف غږیدل. لوړې زده کړې د عربي ژبې، شرعي علومو، ادب او لږ اندازه حساب، نجوم او طب و. لومړنی زده کړې یواځې قرائت، عقاید، عبادات او د حلالو او حرامو شرح وې. دغه تړلې ښوونه او روزنه او تلقین کیدونکی افکار چې د تادیب او تنبه په بنسټ تر سره کیدل، د هغو پایله هم فقط بې شرط او بې قیده انقیاد اطاعت او په پټو سترګو منل و چې باید شریعت او دولت منل شوی وای او د لویانو باید درناوی شوی وای او ټولو پیښو ته باید انسان تسلیم شي. کله چې غزنوي مسعود په بست کې و، عبدالغفار کوچنی هلك و چې په مدرسه کې یې قرآن لوست، مسعود غوښتل چې هغه د دربار په رجالو کې اوسي نو امر یې وکړ چې هغه ته یه «بسالمي» نامتو ادیب یو څه ادبیات ور زده کړي بسالمي یواځې او یواځې یو څو قصیدې له یوه دیوان څخه ور زده کړې. د اشرافو د اولادونو په ښوونه او روزنه کې درې تنو مربیانو برخه لرله. یو مودب، بل رقیب او دریم وکیل «ناظر». اسلامي تصوف او عرفان هم د غزنویانو پر مهال تر څو چې د شریعت په پړاو کې و،

آزادنه روان و، خو صوفیانو د فقها وو له ویرې څخه د عرفاني سرکښه برخو له څرګندولو څخه چې له مذهبي تعصباتو څخه اوچت و، ځانونه ساتل او د اسرارو په پټو مسائلو بوخت وو.

د غزنوي دورې ملکي تشکیلات: لومړی باید وویل شي چې د غزنویانو دوره د دولت د ځواك د کلکولو دوره وه چې ملکي او نظامي اهالي د دولت تر واك او وزرو لاندې ول، ملت مالیات ورکول او سپاهي خپل سر د دولت په خدمت کې بایله، ټولنې نشو کولای چې د وطنپالنې په هکله او د ټولنیزو چارو په هکله څه فکر وکړي. د هېواد د ملکي ادارو په سر کې د وزارت د یوان و. دغه دیوان د صدارت چارې او د مالیې د وزارت دندې پر مخ بیولې چې د عادت له مخې په هغه کې یوه خلك مقرریدل. وزیر به د دیوان صاحب او یا د (خواجه بزرګ) په عنوان مقرر و. دوهم وزارت د (دیوان رسایل) و چې له رسمي او تحریري دندو پرته یې د پاچا لپاره بهرنۍ چارې هم پر مخ بیولې. د رسالت په دیوان کې د عربي، ترکي او هندي ژبو ژباړونکي په کار ګومارل کیدل. له دغو نامتو ژباړونکو څخه د مسعود پر مهال د بهرام، بیربل او تلك هندي نومونه یادولای شو. دغه وروستی ژباړونکي بیا په هند کې د غزنوي حکومت د سپهسالارۍ او والي توب دندو ته هم ورسید. د رسالت دیوان یو بل ځانګړې دفتر هم درلود چې (دفتر حجت) نومید. دغه دفتر ته د پټو راپورونو له را رسیدو وروسته به ولایتونو ته د لویو مقاماتو له لیږل کیدو وروسته تر لاسه شوي مالونه هلته قید کیدل او د اړتیا پر مهال به د هر یوه دوسیه سلطان ته ور وړل کیده. د (دیوات دار) دفتر د شاهي اسنادو، معاهداتو او سیاسي لیکونکو د ساتلو دفترو. د رسایل د دیوان صاحب د تکړه منشیانو له ډلې څخه غوره کیده او ځوان منشان د شاګرد په توګه بې تنخواه د معینیت په ځانګه کې په کار بوختیدل.

(دیوان عرض) د دولت درېیم مهم وزارت و چې د جنګ د وزارت په توګه په نظامي چارو او د اردو برخو کې بوخت و. دغو درې واړو وزیرانو د (حاجب بزرګ) یا وزیر دربار اود غلامانو د سلطنتي سالار (د ګارد قوماندان) سره یو ځای د وزیرانو مجلس د پاچا تر مشرتوب لاندې جوړ او خوآخري فیصله د پاچا ارادې پورې اړه درلوده. (دیوان وکالت) یو بل هغه وزارت و چې یواځې حسابي چارو او د پاچا د شخصي شتمنې په حساب لګیا و په نورو رسمي چارو کې یې کار نه درلود. قاضي القضات په مرکز او لایتونو کې د سیمه ییزو قاضیانو په سر کې و او د هېواد د قضائیه قوا لوي استازی او د عالمانو او ددولت د درناوي وړ کسانو استازیتوب یې کاو، قضایا په شرعي محکمو کې په ډیره چټکۍ او په یوه پړاو کې (پرته له استیناف محکمې څخه) حل کیدل او د قاضي حکم بې ځنډه د اجرا کولو وړ و.

دولتي مهم زندانونه د ګردیز، مندیش (غور)، جوزجان، کشمیر، ملتان او غزني په کلکو کلاوو کې وو. البته سیاسي بندیان او هغه څوك چې په ځانګړې توګه د پاچا په لاس او امر بندیان کیدل په کړاو لرونکې ډول او په یواځیتوب بندیان کیدل چې هیڅ ډول د اړتیا کوم وسایل به یې نه درلودل. د سیاسي او جنایي جرم محکومینو سزاګانې په لاندې توګه وې:

سر پرې کول، د پیل تر پښو لاندې اچول، په دار ځړول، سنګسار کول، په کوتکو او لرګیو وهل، په زنځیرونو تړل او بند کې اچول. د شتمنیو مصادره کول او د امپراتورۍ په نورو سیمو کې تبعیدول، خو

Scanned by CamScanner

مثله کول او بند بند جلا کول چې په یو شمیر نورو هېوادو کې معمول و . دلته په افغانستان کې ندو معمول د افغانستان غوري دولت هم د حقوقو او جزا په برخه کې د غزنوي دولت په شان عمل کاو، خو سلجوقي دولت په قضایي چارو کې زیاته لاسوهنه کوله او د مجرمینو سزا درنه وه او په ډیر وحشیانه ډول تر سره کیده. نورې مهمې څانګې دا وې: اشرف (جاسوسي او اخبار) او برید (ډاك او پوسته). د برید معاش لکه د دبیر په شان په یوه میاشت کې او یا زره درهمه و. خزانه یا دار استیفا (د مالي چارو د محاسبې او سنجش اداره)، کوتوالي او شحنه، امیرحرس، د بندیخانو آمر، د اوقافو تولیت، د سکو د کونده کولو تولیت طراز (په جامه او کاغذ د رسمي نشان د لګولو دفتر) او یو شمیر نور ماموریتونه او څانګې. په ولایتونو کې هم حاکم، قاضي، عامل، کوتوال، برید، مشرف او نورې اداري وې. د غزنوي دورې اردو د مرئیبانو قطعات، دایمي قطعات، جلبي او سفري قطعات لرل چې په سپرو او پلیو ټولګیو ویشل شوي وو. وسلې یې تورې غشي او لیندی، سپرونه، منجنیق او تیرې اچوونکي ارابې وې چې په جګړو کې په کار اچول کیدې. د اردو افسرانو هم جګړه کوونکي وو او زغرې او دوه شاخه خولۍ یې لرلې. د اردو شمیر سل زره تنه وو چې څلویښت زره یې سپاره عسکرو چې په غزني کې وو اردو لوی وسله تونونه درلودل. یوزر او اوه سوه پیلان چې څه یې جګړه ییز او څه یې بار وړونکي و په پوځ کې شامل وو. له دې سره یو ځای د سفر پر مهال یو شمیر آسونه او اوښان هم ور سره یو ځای کیدل د پوځ تنخا سره له دې چې بیست ګاني بلل کیده، خو په درې درې میاشتو کې ورکول کیده.

د جنګي سوقیاتو پر مهال په جنیبت او جمازه (آسونه او په اوښانو سپاره) دواړه له لښکر سره یو ځای تلل. عسکري رتبې له پورته څخه ښکته خواته داسې وې: سپهسالار، سالار، قائد، سرهنګ، خیلتاش، عریف او نور. نقیب هغه چاته ویل کیدل چې عسکري ټولیو ته به یې عسکري او امر اعلانول او د نظم څارنه یې کول. نظامي انضباط ډیر کلك و او لویو نظامي افسرانو شراب نه څښل او د پاچا د شراب څښلو په مجلس کې هم نه کیناستل او هغه سره ښکار ته هم نه تلل. د ولایتونو سالاران ټول سرې جنډې او عسکري ډول لرونکي وو. د مسعود پر مهال د هندي عسکر سالار په غزني کې (سندر) نومید، چې هندو و او د عربو او کردانو د ټولیو عراقي سالار ابوالحسن نومید. په غزنوي پوځ کې پرته له افغاني وګړو څخه عربان، کردان، هندیان، ایرانیان هم ګډ وو. ددغو ټولو ملکي او پوځي تشکیلاتو په سر کې په خپله پاچا و چې د حکومت عالي رئیس، لوی قاضي او د پوځ د اعلي بولندوي په توګه و. د پاچا بیرغ د زمري انځور درلود چې یو لوی څپر به وربانديې و. شاهي دربار د هېواد تر ټولو پراخه موسسه وه چې په زرګونو تنه غلامان (مرئیبان) یې ګاردان و او ساتنه یې کوله. زرګونه ندیمان، ادیبان، شاعران، طبیبان، منجمان، افسانه ویونکي (قوالان) کتاب ویونکي (محدث) جامه دار، طشت دار، خمار چې (شراب راوړونکي) دیوات دار (د اسنادو ساتونکي)، ساقیان، سندر بول، سندرې غږوونکي، پیشخدمتان او نور ډیر مامورین یې لرل. لوی درباریان لکه ندیمان، شعرا، طبیبان او د بیران ټول د هغه وخت فاضل خلك وو چې په درې او عربي ادب انشاء او ترسل، تاریخ، اخبار، قرآن، حدیث، فقه او تفسیر باندې پوهیدل. درباري شهزاده ګان او اشراف زاده ګان له نظري معلوماتو پرته، په ورزش،

ښکار، غشي ویشتلو، او ساندي اچولو کې تکړه وو. د غزني د پرتمین دربار لګښتونه ډیر زیات وو او د خوراکونو د چمتو کولو لپاره یوه لویه اداره وه چې (تولیت سفره شاهي) بلل کیده. شاهي دربار ډیر مجلل او له طمطراق ډک و چې ځانګړي آداب او تشریفات یې لرل. په رسمي ورځو کې به پاچا په یوه لوړه او لویه صفه (چوتره) پر تخت باندې ناست و او څو سوه مرئییانو چې دوشاخ خولۍ، د سپینو زرو ملاوستنې او ځانګړې وسلې به یې درلودې د چوترې شاوخوا ته ولاړول. له تخت څخه لاندې او د چوترې پر مخ به شهزاده ګان، صدراعظم، او سپهسالار ناست و. له چوترې کوربه د درباریو شمیر لوی نور مامورین په ټاکلو ځایونو کې ناست وو. یو شمیر نور به په ټاکلو ځایونو کې ولاړ و. سلطنتي حجاب به د دربار په دروازه کې دریدل او د مرئییانو څو زره کسیز ګارد به د دربار له دروازې څخه بهر کتار ولاړ وه په نا رسمي غونډو کې به پاچا پر ځمکه کیناست او لوی مامورین به دوو خواوو ته په ټاکلو ځایونو کې کیناستل یا به هم ولاړ وو. د پاچا ورور یا تره به پاچا ته نژدې، د مجلس په بر سر کې او د پاچا له توشکې څخه ها خوا و. د ډوډۍ پر مهال به د پاچا او لویو غښتانو دسترخان جلا او د نورو به جلا غوړول کید. د افسرانو او د ګارد دسترخان او د ټیټو مامورینو دسترخان به له دربار څخه بهر غوړول کید. کله به چې په غیابي توګه یا د پاچا په حضور کې په شفاهي یا لیکلي بڼه چاته د پاچا کوم پیغام ورسید، نو هغه به دستي پر ځمکه پریوت او ځکه به یې مچوله. هر هغه لوړ مقام لرونکی به چې لومړی ځل د پاچا حضور ته راته به هر څو ګامونو کې به یې یو ځل یا څو ځله پر ځمکه سجده کوله او ځمکه به یې مچوله. پاچاته به د خداوند او د پاچا زوی ته به یې د خداوند زاده خطاب کاو. کله به چې پاچا سپور چیرته روان و، وزیران او لوی افسران او درباري حجاب به مخکې او نور نظامیان به وروسته پسې روان وو. یواځې به صدراعظم د پاچا کین لاس ته لږ وروسته پر آس هغه ته نژدې روان و. په پاچا باندې به د شاهلوري یو سور څپر ځوړول شوی و. مرئییانو به د زمري د انځور لرونکی بیرغونه وړل که پاچا به غوښتل د لارې په ترځ کې چا سره خبرې وکړي نو د پاچا سورلی او نور تول به ودریدل. ځانګړې مرئییان او د پاچا پیلوان او د هغه مرسیتال به کوز شو او لږ لرې به دریدل تر څو به چې د پاچا مرکې او خبرې پای ته ورسیدې بیا به روانیدل. کله به چې پاچا په حرم کې و، د پاچا د هدایتونو د عملي کولو او تبلیغ لپاره به له حرم څخه بهر د ارتباطي کسانو په توګه دوه تنه ډیر د باور وړ مرئییان حاضر وو. لویو رجالوته د پاچا پیغامونه به د دوو اعتباري او ځانګړو مرئییانو په خوله چې یو بل به یې څارل ټکی په ټکی لیږل کید او ځواب به یې بیرته ټکی په ټکی د پاچا حضور ته راوړل کید.

شهزاده ګان هم د تشریفاتو پا بندوو او که سرغړونه به یې وکړه مودبیئو به او چته غږونه ورباندې کول. د دوی خبرې او اعمال هم د ځانګړو جاسوسانو له خوا څارل کیدل. په مجلس کې به مشر شهزاده له نورو بر ناست و او ورور به یې لږ ها خوا ښیي لاس ته ورته نیم په توشکه او نیم په فرش ناست و، خو تره به یې کیڼې خواته لږ لرې ناست و. د سورلی پر مهال به هم د شهزاده د ورور او د تره آس د هغه له حجاب سره د شهزاده مخ مخکې روان وو. په عسکري سوقیاتو کې به خپله شاه پوځ له یوه لوړ ځای څخه معاینه کاو. دا مهال به پلې لیږل شوی افسر د پاچا مخې ته حاضر او په خاوره به یې ځان غورځاو او ځمکه به

بې مچوله، د پاچا په امر به حجاب هغه را پورته کړ، بیا به یې د پاچا رکاب مچاوه او په خپله سورلۍ به سپور شو او له پوخ سره به یې مارش وکړ.

سلطان محمود، خلیفه عباسي القادر با الله او نورو غټو سټو د غمرازي په غونډو کې به د دولت ټولو مامورینو د سپین رنګ چپنو او لونګۍ سره ګډون کاو. بازارونه او دفترونه به تړل کیدل. خلک به ډلې ډلې راتلل دعا به یې کوله او بیرته به تلل. دغه دود به درې ورځو پورې په لویو جوماتونو کې ترسره کید. د بهرنیو سفیرانو منل هم ډیر پرتمین وو. د سفیرانو هئیت ته به د غزني په ټولو لویو لارو کې ښه راغلاست ویل کید او دوی به د دولت میلمانه وو. کله به چې دوی پلازمېنې ته را ورسیدل نو د سفیرانو د متبوع پاچا لیک به پټه توګه را غوښتل کید، هغه به ژباړل کید او بیا به بیرته ورکول کید، ښارته نژدې د سفیر په راتګ سره به د پاچا دوه ندیمان چې ددغه سفیر په ژبه به پوهیدل، د دربار درې تنه حاجب، لس تنه افسران او زر تنه سپاره ورتلل او د هغه استقبال به یې کاو. د سفیر د اوسیدو تر ځای پورې به په هغه ورځ بازارونه د ښار د مشر له خوا په ښایسته خوازو او قیمتي پردو سره ښکلي کیدل له بازارونو څخه به د سفیر د تیریدو پر مهال د خلکو له خوا د سفیر په سورلۍ هغه د سپینو زرو سکې شیندل کیدې چې خواره به ور سره وو. کله به چې درې ورځې سفیر دمه جوړه کړه وروسته به بیا د پاچا دربارته ورغی. د هغه ښه راغلاست ته به د دربار له وربوی څخه بهر جنګي پیلان او سپاره پوځیان کنار ولاړ وو او د ډولونو په وهلو سره به ښه راغلاست ورته ویل کید. د دربار د ور بوی دننه به د مرئیانو دوه- درې زره ګاردان، افسران او د دولت مامورین د لارې دوو خواوو ته ولاړ وو او سفیر به د هغو له منځه ته او د دربار تالار ته به ورسید. د دربار دننه به ټول وزیران، جنرالان او حاضر خلک و دریدل، خو یوازې پاچا به په چوتره باندې په تخت ناست و او صدراعظم به له تخت لاندې ناست و. سفیر به یې راوست له تخت څخه به یې لرې و دراو، هغه به تعظیم وکړ. پاچا به په یوه لنډه پوښتنه د هغه د متبوع پاچا پوښتنه وکړه، سفیر به د ځواب له ورکولو وروسته تخت ته نژدې ورغی او د نازکې ټوټې له خلتې څخه به یې د خپل پاچا لیک پاچا ته ورکړ او بیرته به خپل ځای ته ورغی. پاچا به لیک واخیست د رسایلو د دیوان وزیر (منشي) ته به یې اشاره وکړه، هغه به راغی لیک به یې واخیست او لږ به وړاندې ودرید، په لوړ غږ به یې اصلي لیک ولوست او درې ژباړه به یې هم کوله، بیا به د سفیر راوړل شوی سوغاتونه پاچاته ورکول کیدل، سفیر به د کار ځای ته ته او دربار به پای ته ورسید.

د سفیر د راتګ په دریو لومړیو ورځو کې به شل زره نغد درهم او یو شمیر قیمتي شیان ورته سوغات ورکول کیدل او د رخصتیدو په ورځ به تر دوه سوه زره درهمه پورې نغدې او یو د سپین زرو یراق لرونکی آس، قیمتي جامې، یو څه مشک او عود او کافور سفیر ته ورکول کیدل. همدارنګه د سفارت د هئیت غړو ته نغد او جنس سوغاتونه ورکول کیدل. د هغوی متبوع پاچا ته به سره او سپین زر، رختونه، وسلې، مشک، کافور، آس، مرئیان، د سرو زرو جام چې له یاقتو او ملغرو به ډک و، ورلیږل کیدل. د بېلګې په توګه د بغداد د خلافت دربارته سوغاتونه په دې توګه وو: نیل ۲۵ زره منه رختونه سل ټوکره، پنځوس دانې مشک. سل دانې کافور، دوه سوه لونګۍ پنځوس تورې، لس یاقوت، شل دانې بدخشاني

Scanned by CamScanner

لعل، پنځه آسونه، پنځه ترکي مرئییان او له ملغرو ډك یو د سرو زرو جام. د لویو والیانو، جنرالانو او وزیرانو مقررول هم له یو ځه تشریفاتو سره مل و. لکه د پام وړ مامور او پاچا ترمنځ لیکلي مواضعه، لیکلي لوړه چې د مامور له خوا به لیکي وه او د رسایل دفتر کې به قید شوه، د خانګړې حاجب د لرلو اجازه، د یو شمیر تاکلو لقبونو ورکول چې دغه لقبونه به بیا په خبرو او لیکنو کې ده ته لیکل او ویل کیدل، د قیمتي ټوکر هغه خلعت چې پاچا ورکړی وي، لونګۍ، د سرو زرو یو ملاوستني تړل چې یا به زر مثقاله و، یا اوه سوه مثقاله یا پنځه سوه مثقاله، د فیروزې ګوتې. ځینې وخت به د مامور له خوا پیل، مریي، توره، علم، یو ځه ملغري او نور شیان پاچا ته ورکول کیدل. نور مامورین به د دغه نوي مامور کورته ور تلل او سوغاتونه به یې ور وړل. په لنډیز سره باید وویل شي چې د غزنوي دولت دوره د افغانستان د بوروکراتیك اداري او درباري تشریفاتو عصر او د دفترونو او تشکیلاتو د پرمختګ دوره وه چې دغه ټول په ملت باندې مالیات نور هم لوړ کړي وو. په غزنوي مهال کې سره له دې چې د مریي ساتلو دوران و او د مرئییانو د پلورلو او پیریدلو بازارونه وو، خو ټولنیز جوړښت په لاندې توګه و. ممتازه یا لوړه طبقه چې اشراف، دیني علما، روحانیون، اعیان، قضات او فقیان، لوی مامورین (خانان او لوی افسران) وو چې ټول یې لوی ځمکوال، بډایان، د سیاسي امتیاز لرونکی شتمن خلك او د حاکمه طبقي واکمن وو. بله منځنۍ طبقه وه چې دا هغه شمیر ښاري وګړي (د علم، هنر، صنعت او د پیشي لرونکي او سوداګر) وو، دریمه طبقه بزګران او دهقانان وو. همدغې دوهمې او دریمې طبقې مالیات ورکول. خو بیګار او د اړتیا پر مهال وسلې سره جګړو ته تلل یواځې په دریمه طبقه باندې زغمل کیدل. حال دا چې د هېواد له فرهنګ او تمدن ځخه یواځې لومړۍ او دوهمې طبقې خلکو استفاده کولای شوه، دا ځکه چې زیات شمیر خلك په کلیو کې میشت ول چې د فرهنګي او مدني وسایلو لرونکي نه وو. د بزګرانو محرومیتونه ورو ورو د فیوډالي نظام دننه نور هم زیاتیدل، نو په دې توګه لکه هغسې چې په ښارونو کې د دربار او اعیانو او د ښاري نورو خلکو د ژوند د کچې ترمنځ کوم انډول او نژدیوالی نه و، همداسې هم د ښار او کلیو ترمنځ هم هیڅ ډول انډول نه و او په خپله د ځمکوال او بزګر ژوند هم یو بل سره ډیر توپیر درلود او واټن ډیر ژور و.

سره له دې چې د غزني دولت خپلو عسکرو ته پیسې په نغد ډول ورکولې نه د اقطاع ځمکې، خو لویو ستو ډیرې ځمکې درلودې، مرئییان به تر روزنې لاندې نیول کیدل چې یو مهال کې به آزاد شول او د دولت د مامورینو په توګه هم منل کیدل او نور به یې په پوځ کې نیول کیدل. په عمومي توګه په غزنوي دوره کې یو وګړی د هغه د نسب او فضل (پوهې) دواړو له مخې درناوي وړ ګڼل کید.

د غزنوي دولت عواید ددغې دورې په تر ټولو لوړ پړاو کې سل میلیونو درهمو ځخه زیات و چې له ځمکو، څارویو، سوداګریزو مالونو، اصنافو، جزیې او نورو ځخه په نغد او جنس بڼه ټولیدل. د بېلګې په توګه بلوچستان د سرو زرو او سپینو زرو د مسکوکاتو، ملغرو او عنبرو په بڼه مالیات ورکول. دغه مالیات تر وروستۍ پیسې پورې بې له کومې لټې ځخه اخیستل کیدل. د هغو په تاکلو او را ټولولو کې واکمنو او دفتري مامورینو او ارباب بشپړ واك او ځواك درلود. له دې پرته واکمنو د سوغات په نوم هم

Scanned by CamScanner

له خلکو څخه په زور ډېر شیان په جنس او نغده بېه اخیستل او په کال کې دوه ځله به یې د هغو یوه برخه
په جشن او نو روز کې د پلازمېنې د غټو مامورینو او واکمنو په خوله کې ور اچول. د بهرنیو جگړو
غنیمتونه او د کورنیو مصادره شویو شتمنیو عواید یو بېل قلم و. نامتو وزیران او لوی افسران او
مامورین چې بېه بډای وو، لکه اسفزایني، حسن میوندي، حسن میکال، بوسهل زوزني، علي او غازي
سپهسالاران، اریارق او بکتغدي او نور ټول د محمود او مسعود پر مهال مصادره شول، آن دا چې
بونصر مشکان وروسته تر مړینې مصادره شو. د دولت لگښتونه دا وو: د غزنوي ډېر پرتمین او دلوړ
مصرف لرونکی دربار او د حرمسراي لگښت، د شاهي کورنۍ لگښتونه، د پوځ لگښت او معاش، د
ملکي مامورینو معاشونه، د روحانیونو مستمری، د شاعرانو مستمری، د لرې پرتو ولایتونو د والیانو
معاشونه چې په غزني کې به اوسېدل چې هر یوه په میاشت کې پنځه زره درهمه او په کال کې دوه
سوغاتونه اخیستل، دلارو جوړول او رغاونه، د پلونو جوړول، د جوماتونو آبادول، د پړاوونو جوړول،
حکومتي ودانۍ او بڼونه او نور....

# شپږم

# افغانستان او سلجوقي دولت

## (له ۱۰۳۸ څخه تر ۱۱۵۳ میلادي پورې)

د غز د ترکانو قبایل د اراك او بالخاش د سمندرګيو ترمنځ (ترکستان کې) ژوند کاو. دوی د بت لمانځنې د مذهب لرونکي وو. له دوی څخه یو شمیر یې د ساماني دولت په اجازه د ماورالنهر په ځینو سیمو کې میشت شوي وو، همدارنګه یو څه ترکمانان د (دقاق) په مشرتوب ماورالنهر ته ولاړل او په ۹۸۵ کې د بخارا د (نور) سیمې ته نژدې میشت شول. سلجوق د همدې دقاق زوی و چې د اسلام دین یې ومانه او زامن یې اسرائیل، میکائیل، یونس او موسی نومیدل. سلجوقیانو وروسته تر سامانیانو څخه د قراخانیانو خدمت کاو، وروسته بیا سلطان محمود دوی ته د افغانستان په شمال لویدیځ کې د څارویو څرولو او ساتنې اجازه ورکړه، خو لږ وروسته پښیمانه شو او اسرائیل یې بندي کړ او همالته په بند کې مړ شو او قوم یې د ایران شمال ته وشړل شو. د محمود له مړینې وروسته، سلطان مسعود هغوی بیرته د افغانستان شمال لویدیځ ته را وغوښتل او یو څه یې د سیستان د امنیت د ساتلو په خاطر د عسکرو په توګه وګومارل. سلجوقیانو د میکائیل د زامنو طغرل او چغربیک په مشرتوب د افغانستان شمالي ښارونه لوټ کړل. په هغو جګړو کې چې د دوی او د مسعود ترمنځ پیښ شول، بریالي شول او په ۱۰۳۸ کې یې مرو او نیشاپور ونیول او د لومړي ځل لپاره د طغرل د پاچاهي خطبه په نیشاپور کې ولوستل شوه. د افغانستان نور شمالي ولایتونه هم په ۱۰۳۹ کې د سلجوقیانو لاس ته ورغلل. دوی په ۱۰۴۳ کې خوارزم له شاه ملك څخه ونیو چې د غزني په نوم یې خطبه لوستله. شاه ملك مکران ته ولاړ، هلته بندي او بیا مړ شو. بلخ ولایت هم سلطان مو دود غزنوي د یوې ژمنې له مخې سلجوقیانو ته ور پرېښود. طغرل سلجوق د خپل مهال یو ځواکمن پاچا شو چې د ایران سیاسي یووالی وروسته تر ساسانیانو څخه د همده په لاس ټینګ شو. هغه د یلمی واکمنو ته ماتې ورکړه او تر ۱۰۲۲ پورې یې بغداد هم ونیو، بیا یې شام ونیو او د ګرجستان له عیسویانو سره یې جګړه وکړه او په ۱۰۲۳ کې مړ شو. عباسي خلیفه خپله یوه لور هغه ته واده کړه د ختیځ روم امپراتور ده ته لیك او سوغاتونه لیږلي وو او ده په وړاندې یې درناوی څرګند کړی و.

سلجوقیان زیاتره پوونده خلك وو او ډیر لومړنی ژوند یې درلود. دوی ډیر وروسته له مدني چاپیریال سره آشنا شول او له غزنوي فرهنګ سره یې ډېر وروسته پیژندنه وشوه او وروسته یې لږ لږ ساماني فرهنګ سره هم ځان برابر کړ. د دوی پاچاهان زیاتره بیسواده وونو ځکه د ساماني دورې یو نیم وزیر په دغه مهال ډیر لوی وزیران شول. دغه ډول فاضل وزیرانو د پاچا د دماغ حیثیت درلود، لکه هماغسې

چې افسران د تاج او تخت ساتونکي وو. ددغو پاچاهانو يو ځواکمن وزير عميد الملك کندري و چې د ايران دفترونه يې له عربي ژبې څخه پارسي ته وژباړل. د طغرل وراره او ځای ناسي آلپ ارسلان په ۱۰۷۲ کې په ارمنستان کې د ختيځ روم امپراتور (رومانوس ديو جانوس) ته ماتې ورکړه او د نوموړي (ديو جانوس) لور يې خپل زوی ملك شاه ته واده کړه. الپ ارسلان عميد الملك کندري مړ کړ او د خراسان يو نامتو عالم (خواجه نظام الملك طوسي) يې چې يو متعصب، دا شعريه پلوي، شافعي مذهبه با تدبيره سړی و، وزير کړ. آلپ ارسلان د طوسي په مرسته خپل پراخه هيواد ښه منظم کړ. په خپله بيا په ۱۰۷۲ کې ماورالنهر باندې د يرغل پر مهال د يوسف په لاس ووژل شو. دده پر ځای دده زوی ملك شاه سلجوقي پاچا شو او ماورالنهر يې ونيو. ملك شاه دري ادب پياوړی کړ او د ديني علومو ملاتړ يې وکړ. دده وزير نظام الملك د نظاميه په نومونو ګڼ شمير ديني مدارس په بلخ، مرو، نيشاپور، پوشنګ، هرات، بغداد، اصفهان، بصره، امل او موصل کې جوړ کړل چې د شافعي مذهب تدريس پکې کيد. ده د سياست نامې په نوم کتاب هم وليك چې مشهور کتاب و. معزی نامتو شاعر د همدغه پاچا ستاينه کړې او عمر خيام د همده په امر (تاريخ جلالي) کتاب ليکلی و. ملك شاه سره له دې چې لکه الپ ارسلان غوندې بيسواده و، خو ده لکه د غزنوي پاچايانو په شان د ادب پالنه وکړه ښه اداره يې وچلوله او خپل واك يې ټينګ کړی و. د ملك شاه له مړينې وروسته او په ۱۰۹۲ کې د حسن صباح په امر د ايران د قلعه الموت د اسمعيليه تروريستانو په لاس د نظام الملك له وژل کيدو څخه وروسته سلجوقي او سيمه ييزو فيوډالانو ايران له اړ دوړ سره مخامخ کړ او د ملك شاه ځای ناستي لکه محمود، برقيارق، ملك شاه ثاني او محمد يې په دغه پراخه اداره کې ضعيف کړل. په دې لړ کې سلطان سنجر سلجوقي په ۱۱۱۷ کې په شمالي افغانستان کې ځان خپلواك کړ او د مروې په ښار کې يې مرکزيت جوړ کړ. همده څو کاله نور هم په خراسان کې په خپلو ځواکمنو لاسونو دولتي واك وساته او د ادب ډيوه يې روښانه وساتله.

خو په اصل کې سلجوقي امپراتوري هماغه د لومړی ملك شاه له مړينې وروسته مخ په خوړ شوه، سلجوقي شهزاده ګانو هر يوه په هر ځای کې خپل کوچنی حکومتونه جوړ کړل؛ د بېلګې په توګه: په ۱۰۴۱ کې په کرمان کې، په ۱۰۹۴ کې په شام، په ۱۱۱۷ کې په عراق او کردستان کې او په ۱۰۷۷ کې په روم (کوچنی آسيا) کې ټولو خپلواك سلجوقي دولتونه اعلان کړل. سلطان سنجر خپله خور د غزني سلطان (دريم سلطان مسعود) ته ورکړه او خپل خور يې، بهرامشاه غزنوي يې د غزني پر تخت کيناو، کله چې هغه سرغړونه وکړه، هغه ته يې ماتې ورکړه، همدا رنګه نوموړی د سمرقند حکومت هم و پرځاو او د افغانستان په نوي تاسيس شوی دولت (علاؤ الدين جهانسوز) او د خوارزم په دولت (اتسز خوارزمشاه) يې په ۱۱۴۰ کې بری و موند، خو خوارزمشاه ځان غلی کړ تر څو چې (قراختايي) دولت کاشغرستان د سنجر په ضد را پاڅاو، نو ددغه لمسون په پايله کې د سنجر او قراختايان ترمنځ جګړه وشوه. په جګړه کې په ۱۱۵۲ کال سنجر د جيحون په غاړو کې ماتې سره مخامخ شو. په بل کال د غز ترکانو (چې په بلخ کې شپانه و) په جګړه کې بندي شو، خلور کاله په بند کې پاتې شو ددغو څلورو کلونو په ترڅ غز کوچيانو د افغانستان په شمالي ولايتونو کې ډير زيات وراني وکړ او يو زيات شمير

فاضل او پوه خلك يې له منځه يووړل دوی پر غزني هم يرغل وکړ، دغزنوي لړۍ پاتې کسان يې ټول له منځه يووړل. همدارنګه د کرمان سلجوقيانو لړۍ (چې په ۱۰۴۱ کې را منځته شوې وه) د دوی په لاس له منځه لاړه. سلطان سنجر و کولای شول چې وروسته له څلورو کالو د غزانو له زندان څخه و تښتي او مرو ته ورسيږي، خو هلته وروسته تر ۴۰ کلونو پاچاهۍ څخه په ۱۱۵۷ کال کې ومړ. سنجر لکه د خپل پلار په شان علما او فضلا هڅول. دده په دربار کې نامتو شاعران وو لکه انوري، اديب صابر، عبدالواسع جبلي او معزي، چې دده ستاينوال وو. د سنجر له مړينې څخه وروسته د افغانستان غوري دولت له سلجوقي واکمنو څخه د افغانستان شمالي او لويدخ ولايتونو ونيول او غوريانو په افغانستان کې هم د غزنوي او هم د سلجوقي دولتونو ځای ونيو. د سلجوقي دولت پر مهال در دربار شکل يو څه ساده شو او تجمل کم شو. د دولت په تشکيل کې هم کمښت را وسنل شو. آن دا چې د بريد ديوان (د مخابراتو وزارت) د ديوانونو په ډله کې له منځه يووړل شو. د جاسوسي اداري لکه د پخوانۍ حرس دايرې غوندې خپل اهميت له لاسه ورکړ، خو د پخوا سرچپه. سلجوقي دولت د مجرمينو سزاګانې ډيرې سختې او وحشيانه کړي او په سزاګانو کې يې د مثله سزا هم ور زياته کړه. په دغه دوره کې فيوډاليزم مخ په پرمختګ و چې د ځمکوال او بزګر ترمنځ تضاد مخ په ژور کيدو و او د بزګر ژوند مخ په خراپيدو و. په افغانستان کې د سلجوقيانو يرغل نه يواځې دا چې هېواد له سياسي پلوه تجزيه کړ، بلکې په دغه دوره کې د بزګرانو ژوند هم ډير خراب شو. همدارنګه سلجوقي دولت چې د نظامي تيول د سيستم پر مخ وړونکی و، د پيسو پر ځای يې عسکرو ته ځمکې ورکولې چې وار په وار يې خپل قلمرو کې د اقطاع سيستم ته پراختيا ورکړه. دغه سيستم د کوچنيو ځمکوالو په اقتصاد ډيره بده اغيزه وکړه، د يوې ټوټې کرنيزې ځمکې بيه دومره را ټيټه شوه چې د ساماني دورې د څلورو زرو درهمو پر ځای يې د سلجوقيانو پر مهال چا د سوغات په توګه هم نه اخيستله. که چا ځمکه تر لاسه کوله هم بې له کرنې او کښت څخه پاتې کيدله، دا ځکه د ځمکې د بيې ډير کمښت ددې لامل شو چې د لږ ځمکې ځمکوال اقتصاد خراب شي او حاکمه طبقه نور هم په رعيت ظلم زيات کړي.

سلجوقيان چې په بشپړ ډول د يوه قبيلوي ملکيت پلويان وو، نو دولت يې يواځې د پاچا مال نه، بلکې د پاچا د ټولې کورنۍ مال باله. نو ځکه هر سلجوقي شهزاده به چې هر ځای برابر شو هلته به يې په خپل نوم خطبه جاري کوله، نو له دې امله لږ څه وروسته د سلجوقيانو لويه شهنشاهي په ټوله منځۍ آسيا، کوچنۍ او مرکزي آسيا کې په څو څو حکومتونو وويشل شوه.

همدارنګه سلجوق پاچاهانو چې غوښتل يې د منځنۍ آسيا د پخوانيو پاچاهانو په شان مطلق العناني رواج کړي، نو د روحانيونو، اشرافو او مخورو له مخالفت سره به مخامخ کيدل. د فيوډالانو جګړې او تجزيه طلبي د سلجوقيانو د دورې يوه ډيره ځرګنده نښه وه. د بېلګې په توګه په کوچنۍ آسيا کې د سلجوقيانو دولت په لسو کوچنيو حکومتونو ويشل شوی و چې يو يې د عثماني ترکانو حکومت و، په پای کې همدا وروستی دولت نه يواځې کوچنۍ آسيا له سلجوقي ملوکو څخه ونيوله، بلکې يو مهال يې په خپله يوه لويه إمپراتوري د ځمکې په دريو وچو کې جوړه کړه.

د سلجوقيانو په دوره کې پوهه او فرهنګ د مذهبي تعصب تر سيوري لاندې راغلل دومره تعصب و چې د

خواجه نظام الملك توسي په شان يو پوه او فاضل شخص هم د متعصبينو په کتار کې راغی او د اشعريانو په ملاتړ يې پيل وکړ. سره له دې چې په يوه لسمه پيړۍ (۱۰۴۴) کې په ماورالنهر کې يوځل بيا فاطمي مبلغينو د دغه مذهب په تبليغ پيل وکړ او آن دا چې يو شمير خلك يې د مصر د فاطمي خليفه مستنصر پلوي ته را وبلل هم، خو د قراخانيانو حکومت په ماورالنهر کې نور دوی ته وخت ور نه کړ. د بېلګې په توګه بغراخان هارون قراخاني امر وکړ چې په بخارا کې دې ټول فاطميان ووژل شي. په دې توګه ترکمانان چې يو د لومړني او پوونده ژوند لرونکی وو د سلجوقيانو پر مهال يو شمير پوهو وزيرانو لکه عميد الملك کندري او خواجه نظام الملك طوسي په مرسته د يوې منظمې ادارې خاوندان شول. دا په داسې حال کې چې د ترکمانانو په خټه کې سرکښي او بېړاتوب و او يواځې يې توره پېژندله او بس او له پاچاهانو څخه يې يواځې او يواځې دسترخوان او سوغاتونه غوښتل او بس. دا هغه غوښتنه وه چې خزانه يې تشه کړه، ددې د جبران لپاره د دوی دولت د غنيمت ټولولو او مصادره کولو لاره ونيوله. د سلجوقي دولت لښکر څلور سوه زره تنه وو چې د هغو د لګښت د کمښت لپاره يې يو ځل هغوی سل زره تنو ته را کم کړل. په هر حال؛ سلجوقي دولت چې په پيل کې په ايران کې د هغه هېواد د سياسي يووالي لامل شوی و په افغانستان کې يې د هغه سرچپه، اداري منظم جوړښت او مدنيت ته ډير زيات زيان واړاو. هغه ښارونه چې دوی وربانديې يرغل وکړ له اقتصادي او فرهنګي پلوه ډير زيات زيانمن شول. تر ټولو بده دا چې په پای کې د افغانستان يو موټی هېواد د سلجوقيانو، غزنويانو او غوريانو په دريو دولتونو ووېشل شو. سلجوقيانو ادب ډير وهڅاو او په دې برخه کې يې د غزنويانو پر بل ګام کېښود، خو هغه پخوانی روحيې ګوزار خوړلی و او تعصب هم پراخه شوی و، نو ادب ډير ښه نه شو. خو ددې پر ځای نقاهت او تصوف د خپل پرمختګ لاره وهله، خو له اقتصادي پلوه د سلجوقيانو دوره د سوداګرۍ د ودې دوره وه.

# اووم

# افغانستان د غوري دولت پر مهال

## (له ۱۱۴۸ څخه تر ۱۲۱۴ میلادي پورې)

سوري کورنۍ له اسلام څخه مخکې د غور ولایت د سیمه ییزې واکمنۍ واکمن او د افغانستان له ملوك الطوایفو څخه وه د هغوی نامتو څېرې د مروې د ولایت واکمن ماهویه سوري و چې په اومه پېړۍ کې واکمن تېر شوی و او د اسلام د خپریدو پر مهال یې د رېیم ساساني یزدګر وژلی و او بیا یې له عربو سره اړیکې ونیولې او خپله هم مسلمان شو. د غور سوریانو وکولای شول چې د څو پېړیو لپاره د عربو او د افغانستان د اسلامي دولتونو په وړاندې خپله خپلواکي وساتي. د غوریانو له خپلواك عزم سره د هېواد جغرافیایي وضع، سختو پېچومو، نظامي کلکو کلاوو او سوړ ژمي او د خلکو وسله والو مبارزو هم مرسته کوله او خپلواکې ښه و ساتل شوه. دغور لومړنی سیمه ییز امیر د اسلام په دوره کې، امیر پولاد شنسب و چې په اتمه میلادي پېړۍ کې یې د اموي دولت پر ضد د افغانستان د خلکو په ملي غورځنګ کې له ابو مسلم خراساني سره یو ځای مرسته وکړه. ښنجی بهاران ددې لړۍ یو بل مشر و چې بیا یې د اتمې پېړۍ په وروستیو کې د بغداد د خلافت پلازمېنې ته سفر وکړ او له هارون الرشید څخه یې منشور تر لاسه کړ. امیر سوري د دوی یوه درېیمه څېره وه چې په تاریخ کې نوم لري. هغه د یعقوب لیث د دوران سړی و چې په نهمه پېړۍ کې یې د صفاریانو پرمهال ژوند کاو. همدغه مهال اسلام په غور کې خپور شو او د غور یو شمیر خلك مسلمانانو شول وروسته بیا په یوولسمه میلادي پېړۍ کې غزنوي دولت و توانید چې په غور کې واك و مومي. دا مهال سلطان محمود غزنوي د غور سیمه ییز امیر، چې د سبکتګین تابعیت یې درلود بندي کړ خو سیمه ییز حکومت د هغو کورنۍ سره پاتې شو. د محمد سوري زوی بو علي یې د پلار پر ځای پر تخت کیناو چې هر کال به د غزني دولت ته جنسي مالیات ورکوي او دابه وسلې وي لکه جوشن او زغرې، دا ځکه چې هغه مهال په ټوله منځنۍ آسیا کې د غور وسله جوړولو او فلزکاري نوم درلود. د غور خلکو وکولای شول چې د لوړو غورونو په سرونو کې په کلکو کلاوو کې ژوند کاو په همدغو تورو او وسلو ځانونه د عربو له یرغل او د افغانستان له اسلامي دولتونو څخه وساتي. یوازې دا نه، بلکې په خپله د غور خلکو کې هم یو شمیر مذهبي جګړې د مسلمانو شویو او نا مسلمانو خلکو ترمنځ پېښېدې چې دغو جګړو د وسلې جوړولو د صنعت په پرمختګ کې اغیزه درلوده. د بوعلي ورارہ عباس چې یو ستوری پېژندونکی و د سیمه ییز حکومت په وړاندې پاڅید. خو د یولسمې پېړۍ په نیمایي کې د امیر ابراهیم غزنوي په لاس بندي او حکومت دوهم

سوري محمد بن عباس ته وسپارل شو. وروسته بیا قطب الدین حسن د دوهم محمد پرځای کیناست، خو د یوه کورني اړ- دوړ په ترڅ کې ووژل شو. عزا لدین حسین د همدغه څوی و چې یو ادیب سړی او د غور ټوله سیمه یې د خپلو اوو زامنو ترمنځ د (هفت اختر) په نوم ویشله او د افغانستان په شمال کې یې له سلطان سنجر سلجوق سره ښه روابط وساتل، دا څکه چې د غزني دولت مخ په خوړو، نو د دې کولای شول چې د غزنوي دولت او سلجوقیانو ترمنځ یو ډول خپلواکي ولري. دده زوی او ځای ناستی قطب الدین محمد نور هم خپلواک شو او د (ملك الجبال) په نوم یادید. دده د پخوانی پلازمیني (ورسار) په ځای د (فیروز کوه) ښار غوره او جوړ کړ. هغه له کورنیو جګړو او اړو دوړ سره مخامخ شو په دې توګه دده کورنۍ هر واکمن چې په بیلا بېلو سیمو کې یې واکونه درلودل خانونه خپلواك کړل. هغه اړ شو چې غزنوي دربار ته پنا ور وړي. سلطان بهرامشاه غزنوي هغه په سیاسي او اخلاقي تور وواژه په دې توګه یې سوري ټوله کورنۍ کسات اخیستو ته ولمسوله لومړی د قطب الدین محمد ورور سیف الدین سوري له خلکو سره یو ځای مخ د غزني په ښار ورغی بهرامشاه غزني پرېښود او د هېواد ختیزو ولایتونو ته وتښتید. خو په ژمي کې چې د غور لارې بندې شوې بیرته را و ګرځید او غزني یې بیا ونیو او سیف الدین سوري یې د هغه له وزیر مجدد الدین سره یو ځای غرغره کړل. بهاء الدین سام بن حسین په غور کې د سیف الدین ځای ناستي د کسات اخیستو په موخه مخ په غزني لښکر را روان کړ خو د غزني په لاره کې مړ شو. دده پر ځای په غور کې علاؤ الدین حسین بن حسین بن سام راغی.

## د علاؤ الدین حسین جهانسوز دوره

علاؤ الدین په دولسمه پیړۍ کې د افغانستان د غوریه (غوري) دولت د پام وړ بنسټ ایښودونکی چې یو عجیب سړی او سیاستمدار و. دده په خټه کې یو بل سره متضادي ځانګړتیاوې وی. هغه د تحصیل خاوند و چې د دري او عربي ژبو ادب یې لوستی و. په تاریخ پوهیدا او په دري شعر کې ښه ادیب هم و. علاؤ الدین عیش و نوش، شرب او سندرو سره علاقه درلوده. په عین وخت کې جګړه مار او زړور او دیر کبرجن سړی و. خو له دې سره یو ځای یې غوره ژبه درلوده. له همدې امله له ده څخه یو بل سره توپیر لرونکی کارونه ځرګندیدل. همدا چې علاؤ الدین په غور کې واك ته ورسید. بې له ځنډ د کسات اخیستو په موخه مخ په غزني ورغی دا څکه چې نوموړی هم د غزني د دولت له ضعف خبرو او هم له پوونده دښمنانو سره د سلجوقي دولت له شخړو خبرو. غزنوي بهرامشاه سوله پیزه لاره غوره کړه، خو علاؤ الدین و نه منله. هغه د زمینداور، تګین آباد او غزني په دریو جګړو کې په ۱۱۴۸ کال په بهرامشاه باندې بریالی شو او غزني یې ونیو. بهرامشاه د هېواد ختیزو ولایتونو ته و تښتید. ترڅو په ۱۱۵۲ کې هلته مړ شو. خو علاؤ الدین د غزني په نامتو او ښکلی ښار کې څه وکړل؟ هغه امر وکړ چې غزني دې وسوځول شي. نو دغه د ښارونو ناوې اووه ورځې او اووه شپې وسوځید. د غوریانو د مهال تاریخ لیکونکی منهاج السراج جوزجان په ډېرې خواشینۍ سره لیکي: (... په دغو اوو شپو- ورځو کې د لوګی له امله هوا دمره تیاره شوې وه چې ورځ به لکه د شپې په شان ښکاریده او شپه کې به د اور د لمبو

له امله هوا لکه د ورځې په شان روښانه وه. په دغو اوو ورځو کې وژل او لوټول هم جاري وو کوم نارینه چې په لاس ور تلل هغه یې وژل او ښځې او ماشومان یې بندیان کړل او امر یې وکړ چې د محمودي کورنۍ د پاچایانو مړي له خاورو را وباسي پرته له سلطان محمود او مسعود او ابراهیم څخه نور و سوځوي. کله چې اوه شپې او ورځې تېرې شوې او اتمه ورځ شوه ښار ټول خراب او سوځېدلی و.» له هغه وروسته علاؤ الدین د غزني پاچایانو د ماڼیو په ورانیو کې کیناست او شراب او عیش باندې بوخت شو او په خپله ستاینه کې یې لاندې ابیات ولیکل او مطربانو ته یې وویل چې دده تر مخې دې چنګ او چغانه و غږوي:

جهان داند کـه سلطان جهانـم | چـراغ دوده عباسـیانـم
علاؤ الدین حسین بـن حسینم | که باقی بـاد ملك جاودانـم
چو بر ګلګونه دولـت نشیـنم | یکی باشد زمین و آسـمانـم
امل مصرع زن ګرد سپاهـم | اجل بازیګر نوك سـنانم
همـه عالم بګیرم چـون سکنـدر | بهر شهری شهی دیګر نشـانم
بر آن بـودم که از او باش غـزنین | چو رود نیل جوی خون بـرانـم
ولیکـن ګنده پیرانـنـد و طفلان | شفاعت میکند بخت جـوانـم
به بخشیدم بدیشان جان ایشان | که بادا جان شـان پیوند جانـم

علاؤ الدین د غزني له نړولو وروسته چې د افغانستان د پخوانیو پیړیو د تمدن، فرهنګ، اقتصاد، هنر او پوهې مرکز و، د کندهار او بست له لارې بیرته غور ته ستون شو، خو د بست ولایت یې هم ونړاو چې د غزنوي پاچایانو د کورنۍ اقطاع و او هلته د محمود د دورې لوېې ودانۍ وې. سره له دې چې د علاؤ الدین خاې ناستو دغه ودانۍ بیرته مرمت کړې. خو بیا وروسته مغولو بیا بیخي له منځه یو وړې. علاؤ الدین په غور کې وویل چې د غزني څو روحاني بندیان ووژني او د هغو په وینو هغه خاوره لخته کړي چې په توبرو کې یې راوړې وه او له دغې ختې څخه د فیروز کوه د غره پر سره یو خلی جوړ کړي. وروسته له هغه په فیروزه کې عیش او شرابو ته کیناست او بیا یې په خپله ستاینه کې څو بیتونه ولیکل او سندر بولي یې را وغوښتل او په خپله یې خانته د سلطان نوم غوره کړ، خو خلکو هغه د جهانسوز په نوم یاد کړ.

علاؤ الدین هغه باج چې تر دې مها له خلکو د خراسان سلجوقي دولت ته ور کاو، واخیست سلجوقي سلطان سنجر د جګړې په نیت مخ په فیروز کوه لښکر ور وست، علاؤ الدین د هرات او فیروز کوه ترمنځ لاره کې په دفاع لاس پورې کړ خو د غز او خلج او ترکانو شپږ زره عسکر ور څخه جلا شول او د دښمن سره یو خاې شول، نو ځکه یې لښکر له پښو ولوید او په پخله بندي شو او د سنجر لاس ته ورغی. خو ویې کولای شول چې په خپلې غوړې ژبې او ستاینو سره او د دربار د آدابو په پوهیدو سره ځان له مرګ څخه وژغوري او د سنجر په دربار کې یو وړ دریځ و مومي. دا ځکه سنجر چې د غز پوونده قبیلو او

Scanned by CamScanner

خوارزمیانو له لوري په ګواښ کې و، نه یې غوښتل چې د علاؤ الدین په ځورولو سره غور خپل دښمن ر ګرځوي، نو سنجر هغه ته ورور وویل او خپل ځاروي او مالونه یې ورته د امانت په توګه وسپارل او بیرته یې غور ته ولیږ. او ورته ویې ویل چې کله سنجر له غز دښمنانو سره خپل حسابونه پاک کړل دغه امانت مالونه به بیرته ور ستانه کړي. خو داسې و نه شول. ځکه چې سنجر په ۱۱۵۲ کال کې له فراخائیانو سره په جګړه کې ماتې وخوړه او په ۱۱۵۳ کې د غز د پوونده خلکو له خوا ونیول شو او په دې توګه د سلجوقیانو دولت پای ته ورسید.

په دې مهال علاؤ الدین ته وخت په لاس ورغی چې غور ډاډ من کړي او د (کشي) د سیمې د جنګیالیو خلکو زرجنګي کلاوې ویجاړې کړي. له دې څخه وروسته علاؤ الدین د زمینداور، بامیان، تخارستان، ګرمسیر، بست، د مرغاب حوزه، غرجستان او تولک سیمې ټولې تر خپل واک لاندې راوستلې. هغه بامیان، تخارستان او بدخشان خپل مشر ورور ملك فخر الدین ته ورکړې. له همدې نېټې څخه وروسته د بامیان د سیمه ییزو واکنو لړۍ پیل شوه، چې د خوارزمشاهیانو تر واکمنې پورې یې دوام وموند. (وروسته تر فخر الدین څخه د هغه زوی شمس الدین محمد د بامیان امیر شو چې د بلخ ولایت هم ورته د غور د دربار له خوا ورکړل شو، او غیاث الدین غوري اجازه ورکړه چې ملك شمس الدین توره جنډه ورپورته کړي. د هغه زوی او ځای ناستی ملك بهاؤ الدین سام د بامیان له واکمنو څخه تر ټولو نامتو واکمن و چې یو بې تعصبه سړی و او د بیلا بیلو مذهبي فرقو له علماوو سره یې یو شان چلند کاوه. امام فخر الدین رازي د (بهایه) رساله د همدې امیر په نوم لیکلې وه او تاج الدین زوزني ملك الکلام عهد د همده په دربار کې ژوند کاوه. جلال الدین او راسل شیخ الاسلام د هغه د حکمرانۍ د مرکز قاضي و. د هغه د واکمنې پولې له کشمیر او کاشغرستان څخه پیل او تر ترمذ او غور پورې رسیدلې. هغه ۱۴ کاله پاچاهي وکړه. د هغه زوی او ځای ناستي جلال الدین علي اوه کاله نوره واکمني وچلوله، تر څو چې د سلطان محمد خوارزمشاه په لاس مغلوب او ووژل شو. همدا مهال د بامیان خزانه لوټ شوه او دغه لړۍ پای ته ورسیده) په هر حال علاؤ الدین جهانسوز چې لکه د روم د لومړۍ پیړۍ امپراتور (نرون) په شان یې د خپل هېواد پلازمېنه سوځولې وه، او لکه د مقدوني سکندر په شان یې غوښتل هېوادونه د نیسي، خپل دوهم مقصد ته و نه رسید، آن دا چې ختیځ ولایتونه یې هم لاندې نه کړل چې مرګ یې را ورسید او په ۱۱۵۵ کې ومړ. ددغه پاچا په مړینه یواځې قرمطیانو وژړل، دا ځکه چې جهانسوز کوم مذهبي تعصب او تقشر (قشر پالنه) نه درلوده. نو ځکه د اسمعیلیه طریقې مبلغینو او استازیو د ایران له الموت څخه آن دده تر دربار پورې ورسیدل چې له درناوي سره مخامخ شول. دوی ته سلطان په خپل قلمرو کې د فعالیت اجازه ورکړه او دوی یې پرېښودل چې همدلته میشت شي، سره له دې چې فقهاؤ د سلطان له دغه عمل څخه چې د غزنوي د سلطنت له کړو سره برابر نه و په غوسه شول، خو د غوري دولت له ویرې یې په خوله څه نه ویل. په ۱۱۵۵ میلادي کال کې د سلطان علاؤ الدین له مړینې وروسته دده زوی سیف الدین محمد د خپل پلار د ظلمونو له امله د خلکو د بیرته پخلا کولو په هڅه کې شو او خلکو سره یې ښه چلند غوره کړ، خو د فقهاوو په لاس روزل شوی سړی و، په مذهب کې یې ډېر تشدد

او تعصب درلود، نو امر یې وکړ چې د اسمعیلیه طریقې پلویان دې دده په قلمرو کې ټول اعدام شي تردې مهال پورې د غز قبیلو د خراسان د سلجوقیانو دولت له ماتې سره مخامخ کړی وا و تر غور، غزني او غرجستان پورې رسیدلي وو. سیف الدین له غور څخه په دفاع لاس پورې کړ او په ۱۱۶۲ کې یې د مرو الرود (مرغاب) او غرجستان په لوري حرکت وکړ، خو د جګړې په ډګر کې د خپل پوځ د سپهسالار (ابو العباس شیش) په غشي د شا له لوري ولګید او مړ شو. په دې توګه د غور لښکر ماتې وخوړه. ابولعباس دغه کار ځکه وکړ چې سیف الدین دده ورور (درمیش) وژلی و. سیف الدین غیاث الدین او شهاب الدین د غور دوه نامتو ځیرې د علاؤ الدین د (جیرستان) د کلا له بندیخانې څخه را خلاص کړل. دا مهال ابوالعباس د سیف الدین له وژلو وروسته غیاث الدین ته بیعت وکړ، خو د غیاث الدین له خوا د هغه د تره د زوی په کسات کې ووژل شو.

## د سلطان غیاث الدین مهال

غیاث الدین محمد سام له خپل ورور شهاب الدین محمد سام سره اوه کاله د خپل تره جهانسوز په زندان کې د ډیر لږ معاش په اخیستو بندیان وو. غیاث الدین په ۱۱۶۲ کې وروسته د خپل تره علاؤ الدین له وژل کیدو څخه د افغانستان پاچا شوی وا و ورور یې شهاب الدین سرجاندار (د محافظ ګارد افسر) و. دغه دوه ورونه چې د افغانستان د دغې دورې دوه ډیر خواکمن پاچاهان وو، د خپلې درې ځلوېښت کلنې واکمنې پر مهال یې د غزنوي دورې له لاسه وتلې پرتم بیرته نوی کړ. غیاث الدین د غور، غزني، کندهار د پوځونو سپهسالارې شهاب الدین ته وسپارله. د بلخ او هرات ولایتونه یې په ۱۱۷۵ کې له تاج الدین او علاؤ الدین سنجري څخه او غزني یې په ۱۱۷۳ کې له غز څخه او نیشاپور او مرو یې په ۱۲۰۰-۱۱۹۹ کې له خوارزمشاهیانو څخه ونیول همدارنګه د غرجستان، تخارستان، سیستان، مکران، ګرګان، کابلستان او ګردیز ولایتونه هم ټول د غور تابع و ګرځول شول. په ۱۱۷۸ کې ملتان، په ۱۱۷۹ کې پېښور او په ۱۱۸۶ کې لاهور فتح شول. ملك شاه د خسرو ملك زوی د غزنوي لړۍ وروستی پاچا ونیول شو. په ۱۰ کال کې پنجاب ونیول شو او خسرو ملك بندي او په غرجستان کې زندان ته واچول شو او په ۱۱۸۲ کال کې همالته مړ شو.

سره له دې چې شهاب الدین په ګجرات کې له هندوستان سره په جګړه کې د (بیهیم د یواري) له لاسه په ۱۱۷۸ کې کلکې ماتې سره مخامخ شو، په ۱۱۸۹ کې بیا دهلي ته نژدې له همداسې ماتې سره د راجستان د پتهواري او د دهلي د ګاندي رای له خوا مخامخ شو چې دوه سوه زره سپاهیان او درې زره پیلان ورباندې تحمیل شو، نو ځکه په ۱۱۹۱ کې په یوه بل ستر جنګ کې یې چې یو سل او شل زره سپاره لښکر ور سره و، په دهلي کې یې پتهواري او ګاندي د هغوی له درې سوه زرو عسکرو سره مات کړل. ده په دغه جګړه کې اجمیر، سوالك هانسي او سر سیتي ونیول. په ۱۱۲۹ کې یې بنارس له چیچن رای څخه ونیو او په ۱۱۹۵ کې تر اګرې پورې ورغی. د غور یوه بل والي قطب الدین ایبك لږ وروسته بیا ډهلي ونیو او هغه یې خپل پلازمېنه و ګرځاو. ده او قنوج، نهر واله او بدوان هم ونیول. په دې توګه د

سلطان غیاث الدین د سلطنت خطبه د خزر له غاړو د جمنا تر غاړو پورې او له جیحون څخه تر بلوچستان پورې لوستل کېده. له دې وروسته بیا افغاني مسلمانو دولتونو لکه قطبیه، شمسیه، غیاثیه، خلجیه، تغلقیه، خضر خانیه، لودیه، سوریه، بنګریه او کراني د هندوستان په بېلا بېلو برخو کې واک تر لاسه او واکمني وچلوله او د شپږو پېړیو په ترڅ کې یې د تاریخ په اوږدو کې دغه لوی هیواد په تمدن او فرهنګ کې نوې پانه پرانیستله، چې تشریح کول یې د هندوستان په تاریخ پورې اړه لري

د غوري دولت خواک داسې برید ته ورسیده چې سلطان محمد خوارزمشاه وروسته د تکش خوارزمشاه له کابینې څخه سلطان غیاث الدین او شهاب الدین ته (د منهاج السراج په قول) داسې یو پیغام ولیږ (... زه بنده محمد تکش هیله کوم چې سلاطین دې ما په فرزندي ومني، خو که د فرزندي ورتیا نه لرم، نو غازي سلطان (شهاب الدین) دې زما مور چې خداوند جهان ده، په خپله حباله کې راولي او زه چې محمد یم ما دې په خپله فرزندی او بنده ګي و مني، تر څو زه بنده نړۍ د هغه اعلی جناب په نوم فتح او سکه د ده اعلی په نوم او خطبه د هغه والا حضرت په نوم کړم او یو له بنده ګانو څخه او وسم ...) خود هغه دغه غوښتنه و نه منل شوه، نو د هغو جګړو په ترڅ کې چې د غور او خوارزم ترمنځ راغلې، خوارزمشاه ماتې و خوړ او شمال لویدیځ خراسان یې له لاسه ورکړ، وروسته بیا دده تره سلطانشاه هم د کاشغرستان د قراختائیانو له لښکرو سره په ۱۱۹۱ کې د غوري دولت په وړاندې له ماتې سره مخامخ شو، مقتفی او الناصر د بغداد عباسي خلفا و و هم هر یوه خپل سفیران (ابن ربیع او ابن خطیب) او سوغاتونه د غیاث الدین دربار ته را ولیږل، همدا راز د فیروز کوه له خوا هم د قاضي مجدد الدین قدوه او مولانا سراج مهاج (د طبقات ناصري د مولف د پلار) له خوا ورته کار وشو. په هر حال، غیاث الدین په ۱۲۰۱ کې په ۶۳ کلنۍ کې په هرات کې ومړ او دده پر ځای شهاب الدین کیناست. شهاب الدین خپل پراخ قلمرو په ښه تدبیر سره اداره کړ. هغه د خوارزم له خواکمن دولت سره د دوستي زمنه وکړه، دا څکه چې په ۱۲۰۴ کې خوارزم ته له عسکري یرغلونو څخه ښه پایله نه وه تر لاسه شوې او همدا رنګه یې د جیحون تر غاړې (اند خوی سیمه کې) له قراختائیانو او د ماورالنهر له ترکانو څخه چې د نامتو جګړه مار ختایي تاینکو طراز تر مشرۍ لاندې جنګیدل، ماتې منلې وه. سره له دې چې ده هڅه وکړه چې دغه ماتې بیرته جبران کړي، خو د سلطنت دوره یې لنډه وه. په ۱۲۰۵ کې په پنجاب کې د (جود) غره او د (کهکران) بزګرانو او قبایلو د فیودالی فشار په وړاندې پاڅون وکړ، پنجاب ته په خپله سلطان شهاب الدین له لښکر سره ورغی او پاڅون کوونکی یې وځپل، خو غزني ته د بیرته راتګ په لاره کې د نیلاب یا جیلم د سیند تر څنګ د شورشي فدائیانو په لاس ووژل شو او مړی یې د کرمان (اوسنی کرم) له لارې غزني ته راوړل شو او هلته ښخ شو. له دې وروسته د غوري لوی دولت مخ په خوړ شو

محمود بن غیاث الدین په ۱۲۰۵ کې د خپل تره ځای ونیو، هغه یو عیاش، ډېر مصرفوونکی او بې کفایته و. ده د فیروز کوه خزانه چې له سرو زرو ډک اته سوه صندوقونه یې لرل، ټول یې په عیش او تجمل تش کړل. هغه د جشن په یوه ورځ کې د خپل د تره ځوی تاج الدین بې وارثه خزانه درباریانو او د

Scanned by CamScanner

فیروز کوه ښاریانو ته وبښله. په داسې حال کې چې دغې خزانه کې د سرو زرو درې، د سپینو زرو همیانۍ، د سرو او سپینو لوښي لکه غوري، صرامي، تشتونه، څراغونه، کودرې، کاسې او نور وو. فیوډالانو له دغه ډول اداري وضعیت څخه استفاده وکړه، هر یوه په خپله اقطاع او سیمه کې خان خپلواك کړ، له دې ډلې څخه یوه یې د محمود د سلطنت په دوهم کال له غزني څخه پر فیروز کوه یرغل وکړ. نوموړی رکن الدین محمود بن علاؤ الدین نومید، خو ناکام شو. د محمود د سلطنت په درېیم کال د محمود د پلار د تره زوی اتسز حسین د تاج او تخت د نیولو په خاطر له بامیانو څخه خوارزم ته ولاړ او له سلطان محمد خوارزمشاه څخه یې عسکري مرسته وغوښته او په فیروز کوه یې یرغل وکړ. خلکو دفاع وکړه او له محمد سره یو ځای شول، په دې توګه د خوارزم او اتسز لښکر مات شو او پلازمېنه بچ پاتې شوه. دغې پېښې خوارزمشاه ته دا هیله پیدا کړه چې افغانستان ونیسي او اتسز یې خپل دربار کې ځان سره وساته. یو کال وروسته د خوارزمشاه ورور علیشاه فیروز کوه ته پنا یووړه، خو غوري سلطان د خوارزم د سلطان په وینا او وراندیز علشاه د فیروزه کوه په (کوشك برین) کې بندي کړ. دا هماغه نامتو ماڼۍ وه چې د هغې پر سر باندې پنځه مرصع د سرو زرو کنګرې وې چې درې درې ګزه لوړ والی اودوه دوه ګزه پلنوالی یې درلود او د دوو طلایي هما مرغانو مجسمې پکې وې چې هره یوه یې د یوه اوښ په اندازه وه.

د علیشاه پلویان د هغه له بندي کېدو څخه خپه شول او په ۱۲۱۲ کې د محمود ماڼۍ مخامخ غره څخه غلي او پټ را روان شول او دغه مست او مدهوش پاچا یې مړ کړ، په هغه سبا درباریانو د هغه ځای د هغه څوارلس کلن زوی ته چې بهاؤالدین سام نومید وسپاره، هغه د شاهي کورنۍ خلك بندیان کړل. ده د علیشاه په ګډون د پلار ۴۵ تنه قاتلین هم ووژل. سلطان محمود خوارزمشاه لاسوهنه وکړه او علاؤ الدین اتسز حسین غوري یې چې دده په دربار کې و، له تکړه لښکر سره غور ته ولېږ. او په فیروز کوه کې جګړه پیل شوه. ښار یې په دوو ورځو کې ونیو او علاؤ الدین اتسز پاچا او بهاؤ الدین سام د هغه له مور، ورور او خویندو سره بندي شو او د خپل پلار له خزانې او تابوت سره یو ځای د هرات له لارې د خوارزم پلازمېنې ته ولاړ. اتسز بن جهانسوز سره له دې چې د خلکو د کرکې وړ و، ځکه چې هغه د خوارزم په مرسته غوري دولت له پښو وغورځاو، خو بیا هم هغه وکولای شول چې غور کې خپله پاچاهي کلکه کړي. په ۱۲۱۴ کې د غزني واکمن تاج الدین یلدز د نصیر الدین حسین په مشرتوب یو لښکر د اتسز د ټکولو لپاره غورته واستاو، چې د جګړې په ترخ کې اتسز ووژل شو، په دې توګه د غور حکومت د غیاث الدین غوري د کاکا زوی علاؤ الدین محمد بن ابو علي ته ورکړل شو. دغه وروستی سړی غور د هماغه ۱۲۱۴ کال په پای کې خوارزمشاهیانو ته تسلیم کړ، په خپله خوارزم ته ولاړ او هلته مړ شو. علاؤ الدین محمد پخوا د نیشاپور حکومت لاس کې درلود، کله یې چې نیشاپور هم خوارزمشاه ته وسپاره او ژمنه یې ور سره وکړه چې هیڅکله به د محمد خوارزمشاه په وړاندې توري ته لاس نه اوږدوي، نو په دې توګه ژمنې او وفاداري په نوم یې هېواد یوه پردي ته تسلیم کړ، خو په واقعیت کې لا ډېر کلونه مخکې له علاؤ الدین څخه یعنی د کهکران د خلکو له پاخون څخه وروسته او

Scanned by CamScanner

د سلطان شهاب الدین له مړینې وروسته عملاً د غوریانو دولت نړېدلی و، په دې معنا چې د سلطان پر شمیر افسران لکه په غزني او پنجاب کې تاج الدین یلدز، په سند او ملتان کې ناصر الدین قباچه، په منځني هند او د پنجاب یوه برخه کې قطب الدین ایبک، په لکنهوتي کې غیاث الدین عوض خلجي په بامیان کې غوریه، په سیستان کې ملك تاج الدین او همدا شان په نورو ولایتونو کې نور والیان خپلواك شوي وو، نور نو د افغانستان کوم سراسري او مرکزي دولت موجود نه و.

## ټولنیز وضعیت

غوري دولت د دولسمې پېړۍ له نیمايي (۱۱۴۸) څخه د دیارلسمې پېړۍ تر پیل (۱۲۱۴) پورې دوام وکړ، دا هغه مهال و چې په افغانستن کې فیوډالي نظام مخ په پرمختګ و. د دغه نظام په دننه کې د بزګرانو د ژوند بده ورځ مخ په زیاتیدو وه چې ځینو ځایونو کې بزګري پاڅونونه تر سترګو کیدل. سره له دې چې غوري دولت یو متمرکز دولت و. خو خپل قلمرو یې د سیمه ییزو خانانو او د دربار او شاهي فیوډالانو ترمنځ په تیولو او اقطاع سره ویشلی و. دوی په بیلا بیلو نومونو له بزګرانو او خلکو څخه مالیات او پیسې اخیستې. له دې پرته د شاهي کورنۍ سردارانو سیمه ییز لوی لوی حکومتونه په خپل واك کې لرل او د خپلې واکمنۍ دننه یې د (ملك) په نوم د خلکو د ژوند او مال پوره واك درلود. دغو شهزاده ګانو او زورورو فیوډالانو د واك د ترلاسه کولو په خاطر یو بل سره سیالۍ کوله او په جګړه اخته وو، چې ددې په پایله کې مرکزي دولت له پښو و غورځید، د بېلګې په توګه وروسته د سلطان شهاب الدین له مړینې څخه ملك رکن الدین له غزني څخه مخ په فیروز کوه یرغل وروړ، همدارنګه ملك اتسز د خوارزمشاه په مرستندوی لښکر د هېواد په پلازمېنه یرغل وکړ، ده د خپل هېواد په پلازمېنه یو ځل بیا یرغل تکرار کړ، تر څو چې د غور دولت ماتې وخوړه. ملك علاؤ الدین هم لومړی نیشاپور او بیا یې په ۱۲۱۴ کې د غور تخت او تاج او ټول افغانستان محمد خوارزمشاه ته ورکړ. ملك نصیر الدین حسین غوري خوارزم ته ولاړ او هلته یې خوارزمشاه د غزني د غوري دولت واکمن تاج الدین یلدز پرضد ولمساو او هغه ته یې د غزني د نیولو بلنه ورکړه، تر څو چې خوارزمشاه را ورسید او له جیحون څخه تر سند پورې یې ټول هېواد ونیو.

په هر حال؛ د غوري دورې فرهنګ او تمدن هماغه د غزنوي دورې د هڅوونکې لړۍ وه چې دوام یې د موند، خو توپیر دا و چې غوري دولت (پرته له سلطان سیف الدین څخه) د غزنوي دولت په شان ډیر کلك مذهبي تعصب او تقشر نه لرل او دغوري زیاترو پاچایانو در بارونه د بیلا بیلو مذهبونو د علما وو د را ټولیدو ځایونه وو. په اصل کې د غور د واکمنو کورنۍ او پاچایان د (کرامیه) طریقې پیروان وو چې دا په خپله د کلامیه د مذهب یوه ریښه وه. د کرامیه د مذهب وضع کوونکی ابو عبد الله محمد بن کرام سیستاني و. غیاث الدین چې کله پاچا شو، نو له دې امله چې د غور زیات شمیر خلکو شافعي مذهب درلود، هغه هم همدا مذهب و مانه، نو له شراب څښلو یې لاس واخیست. دده ورور هم شهاب الدین په غزني کې حنفي مذهب و مانه ځکه د هغه ځای خلك زیاتره حنفي مذهبه وو. کرامي علما چې ډیر وو، د

سلطان د عقيدي دغو بدلولو ته حيران شول، په دې لړ کې د کراميانو لوی امام. امام صدر الدين علي هيشم نيشاپوري چې د افشين د ښار د مدرسې مدرس و، د (غرجستان په مرکز کې)، په خپله يوه منظومه قطعه کې سلطان د مذهب په بدلولو ملامت کړ او نيشاپور ته ولاړ. سلطان په يوه بله قطعه کې هغه را وباله او د عذر په خاطر يې له نيشاپور څخه را وغوښت، يعنې د دوو سلطانانو د مذهبونو بدلون د مذاهبو د آزادي خنډ نه شول. کراميه مذهب له هماغه پيل څخه د افغانستان په شمال او لويديځ کې ډير پلويان و موندل چې مهم مرکز يې نيشاپور و. د سلطان محمود غزنوي پر مهال د دغه مذهب مخکښ په نيشاپور کې ابوبکر محمد بن اسحق و، چې سلطان سره يې ډوغه وکړه او په اصطلاح سره د زنديقيانو او مرتدانو په ټکولو کې يې له سلطان سره مرسته وکړه. خو سلطان په خپل مذهب کې دومره متعصب و چې نه يې شو کولای خپل دغه نژدې دولت هم و ګوري، نو ځکه يې د هغه پر ځای ابو علي حسن بن محمد د روحانيونو مشر کړ او دغه شخص ابوبکر مصادره کړ او له پيروانو سره يو ځای يې بندي کړ، نور علويان يې يې له قيد او شرط څخه د غزني دولت ته په تسلميدو اړ کړل.

د غوري دورې د واني. جوړولو د صنعت د پرمختګ ښه بېلګه د هرات جامع جومات او د جام منار دی. دغه ځلي (منار) چې د مغول له يرغل څخه شل کاله مخکې جوړ شوی و د غوريانو يو ډير پرتمين او عالي يادګار دی چې د معماري له پلوه هيڅ کومه نيمګړتيا نه لري. د هغې دورې د دري ادب ښه بېلګه چهار مقاله عروضي سمرقندي ده خو ګڼ شمير ادبي او هنري آثار او ډير ارزښتمن علمي آثار ټول د چنګيز په يرغل کې و سوځيدل او تبا شول، صرف په يوه کتاب کې د (کوشک برين) او (باغ داور) نومونه پاتې دي. په عمومي توګه داسې ويلای کيدای شي چې پشيه وري، فلز کاري او نساجي او نور کارو بارونه پر مخ تللي وو. همدارنګه کرنه او اوبه لګول هم پر مختللي وو. او سوداګري پراخه وه. سره له دې چې خپلواک خوارزم د منځنۍ آسيا د سوداګريزي لارې پر سر پروت و، افغانستان د چين، ايران او همند او مرکزي آسيا په لاره واك درلود. او د کابل، بلخ او هرات ښارونه د سوداګري مهم مرکزونه په منځنۍ آسيا کې شمير کيدل.

مرئيبيانو په دربار کې ډير اعتبار درلود، آن دا چې د پاچاهي مرتبې ته رسيدل. د بېلګې په توګه سلطان شهاب الدين چې پرته له لور څخه زوی نه درلود، مرئيبيانو يې د زامنو حيثيت درلود چې يو شمير يې د ولايتونو واليان او افسران وو او يو وخت همدوی په هندوستان کې پاچايان شول. د همدغو په هڅونه محمد عوض او منهاج السراج تذکره لباب الالباب او تاريخ طبقات ناصري وليکل. د غوريانو په دوره کې د فيوډالي مناسباتو ټينګښت، د ځمکوال او بزګر ترمنځ واټن زيات کړ او په اکثريت (بزګرانو) باندې فشار زيات شو. ښاري منځنی طبقي لکه سوداګر، پيشه ور او نور يو څه هوسا وو.

له نظامي پلوه د غور عسکري تشکيلات، سره له دې چې په سيمه ييزو او فيوډالو بنسټونو يې تکيه کوله، خو بيا هم منظم او قوي و. شهاب الدين د دهلي په جګړه کې يو سل او شل زره سپاره لښکر ځان سره لرل. نظامي علامه دوه جنډې وي چې يوه توره او بله سره وه چې د لښکر دوو خواوو ته وړل کيده. سور څپر د پاچا و او تور چتر د پاچاهي کورنۍ د ملکانو او د غور د لويو واليانو لپاره و. د غور دولت

د ژمي او اوړي دوه بیلا بیل پایتختونه لرل یو یې فیروز کوه او بل د داور ښار و. دریم مرکز د غزني ښار و چې شهاب د هغه په بیارغاونه کې ډیر کار وکړ او د جهانسوز له سوځولو وروسته یې جوړ او د خپلې واکمنۍ مقر یې وګرځاو.

Scanned by CamScanner

# اتم

# افغانستان او خوارزمشاهي دولت

## (له ۱۲۱۴ څخه تر ميلادي ۱۲۱۹ پورې)

خوارزم ايالت د افغانستان د شمال لويديځ په پای او لرې څنډه کې، په اسلامي لومړۍ پيړۍ کې د يوه سيمه ييز حکومت لرونکی و چې د (آل عراق) په نوم يادید او تر نهمې اولسمې پيړۍ پورې له ساماني دولت سره هم مهاله و. دغه حکومت يو څه خپلواکي درلوده. ددغې لړۍ وروستی واکمن ابو عبد الله محمد بن احمد بن محمد بن عراق و. له هغو څخه وروسته په خوارزم کې د آل عراق د اميرانو ځای، يوې بلې لړۍ ونيو چې په (آل مامون) سره يادیدل. ددغې لړۍ ډېر نامتو کسان ابو علي مامون بن محمد خوارزمشاه و چې د ساماني دولت ملاتړ ورسره و او په ۹۹۲ کې مړ شوی و. ددغه سړي زوی ابو الحسن علي و چې د محمود غزنوي خور يې ميرمن وه. د هغه ورور او ځای ناستی ابو العباس مامون بن مامون بن محمد يو علم پالونکی سړی و چې د هغه مهال د نړۍ ډېر نامتو پوهان لکه ابن سينا او ابو ريحان، ابو سهيلي او ابو الخير خمار د هغه په دربار کې وو، چې د همده په نوم يې علمي کتابونه ليکل د بېلګې په توګه امام ابو منصور نعلبي د (الطوايف و الظرايف) کتاب د همده په نوم وليك. ابو العباس هم لکه د خپل ورور په شان د سلطان محمود غزنه خور په نکاح کړې وه. هغه په ۱۰۱۲ کې د يوه کورني اړ دوړ پر مهال ووژل شو. سره له دې چې دده ځای ابو الحارث محمد بن علي بن مامون بن محمد ونيو، خو د غزني سلطان پرينښود، يو کال وروسته يې خوارزم ته لښکر وليږل او هغه ولايت يې افغانستان سره وتاړه، ماموني کورنۍ يې هم غزني ته وليږله، چې له همدې ورځې وروسته خوارزم د غزنوي دولت يوه برخه شوه. د غزنوي دولت په پرځيدو او د سلجوقي دولت د را څرګندیدو پر مهال د خوارزم ولايت د افغانستان د نورو شمالي ولايتونو په ډله کې د سلجوقيانو لاس ته ورغی. د ملك شاه سلجوقي پر مهال (۱۰۷۲- ۱۰۹۲)د انوشتګين غرجه په نوم يو ترکي ژبې چې د افغنستان د غرجستان اوسيدونکی و، د ملك شاه په درباريانو کې د خوارزم د (شحنه) په توګه غوره شو. د دغه سړي زوی محمد د سلطان سنجر سلجوقي پر مهال د شمالي افغانستان پاچا (۱۱۷- ۱۱۵۷)، د خوارزم والي وټاکل شو. د هغه زوی او ځای ناستي (اتسز) په ۱۱۴۰ کې د خوارزم خپلواکي اعلان کړه. سلطان سنجر د څو څو جګړو په ترځ کې اتسز ته ماتې ورکړه او بښنه يې ورته وکړه، بيرته يې د خوارزم حکومت ته مقرر کړ، خو اتسز غلی نه شو. د غز پوونده قبايل يې د سنجر سلجوقي په ضد ولمسول او هغه يې له پښو و غورځاو. د اتسز زوی ايل ارسلان له ۱۱۵۲ څخه تر ۱۱۲۲ پورې پاچاهي وکړه، خو کوم مهم کار يې تر سره نه کړ. سلطانشاه د خپل پلار له مړينې وروسته په ۱۱۲۲ کې پاچا شو او په ۱۱۲۴ کې يې د ترکستان د

قراختايي دولت لـه لاسـه ماتې وخوړه. عـلاؤ الدين تـوكـوش د هغـه ورور د هغـه پـر ضـد را پاڅيد او سلطانشاه يې د غوري پاچايانو دربار ته وخغلاو او هلته يې پناه واخيسته، خو هغه و كولای شول چې لږ وروسته غز قبايل له سرخس څخه وشړي او پر نيشاپور واكمن شي. علاؤ الدين تكش له ۱۱۹۲ څخه تر ۱۱۹۹ پورې پاچا و او د سلجوقي دولت د ايراني خاورې زياته برخه يې خوارزم پورې وتړله. سلطان علاؤ الدين محمد بن تكش د خوارزميانو يو ډير ځواكمن پاچا و چې د زده كړو لرونكى و. د پاچاهي كلونه يې له ۱۱۹۹ څخه تر ۱۲۱۹ پورې وو. نوموړى د منځنۍ آسيا وروستى او پوره ځواكمن پاچا و چې د چنګيز له يرغل څخه مخكې يې ډيره په چټكۍ د غوريانو دولت پـه افغانستان كې او د تركانو دولت يې په سمرقند كې او د قراختيايي ځواكمن دولت يې په كاشغرستان كې له منځه يوووړل او په دې توګه يې يوه لويه امپراتورۍ جوړه كړه چې د سيحون له سيند څخه نيولى تر سند پورې او له عراق څخه نيولې تر ارال او عربو سمندرګي پورې پراخه وه. سلطان محمد خوارزمشاه په دې قلمرو باندې قانع نه و، هغه غوښتل تر بين النهرين پورې ورسيږي او په بغداد كې اسلامي خلافت له منځه يوسي او په خپله د ټولو اسلامي پاچاهانو په سر كې راشي، د خوارزم د دولت دغه هوډ د افغانستان پـه نيول كيدو او د غور د خزانو نيول كيدو نور هم لا كلك كړ. دا ځكه چې د غور د پاچاهي لـه دفترونو څخه د بغداد د خلافت ليكونـه پـه لاس ورغلل چې پـه هغو كې خليفه الناصر الدين الله د افغانستان غوري دولت له قراختايي دولت سره يـوه نظامي تړون تـه د ځولى و او د خوارزمو پـه ضد يې لمسولى و، دا ځكه چې بغداد د خوارزميـانو لـه ورځ پـه ورځ زياتيدونكى ځواك څخه پـه ويره كې و د او د خوارزمشاه چلند ويرولى و. دا يواځې نه، بلكې خليفه د حج په لاره كې د سلطان علم د جلال الدين حسن اسمعيلي د علم شاته ايښى و، دا ځكه چې له هغه څخه يې ځو فداييان اخيستى وو او په هغو سره يې د سلطان يو كار كوونكى (اغلمش) په عراق كې وژلى و.

په هر حال؛ همدا چې سلطان محمد د ايران، ماورالنهر او افغانستان له چارو وزګار شو له فقهاوو څخه يې يوه فتوا تر لاسه كړه او په هغې كې راغلى و چې الناصر الدين البته عباسي خليفه، له سلطان محمد خوارزم سره چې د اسلام خدمتګار دى مخالفت كوي، په داسې حال كې چې اسلامي خلافت د حسيني ساداتو حق دى، خو عباسي كورنۍ دغه حق غصب كړى دى. نو ده دغه فتوا بهانه كړه او پـه ۱۲۱۷ كې يې د مسلمانانو خليفه نوم له خطبې و غورځاو او په خپله له خوارزمي اردو سره يو ځاى د بغداد د نيولو په نيت او د خلافت د نړولو په هوډ روان شو، خو ژمي ژر را ورسيد او سلطان د ايران په همدان كې كلك ژمي او بدې يخنۍ او واورې سره مخامخ شو او ډير عسكر يې مړه شول نو د بغداد لـه نيولو تير شو او ماورالنهر ته را ستون شو، چې له يوه خطرناك دښمن څخه دفاع وكړي، هغه دښمن چې سلطان پـه خپله هغه جګړې ته اړ ايستلى، د هغه سوداګر او سفير يې ورته وژلى و، دا ځكه چې سلطان لا پخوا د چين د هېواد د نيولو هوډ درلود او چنګيز يې مخې ته خپل خنډ باله. منهاج السراج د عماد الملك تاج الدين له خولې چې د سلطان محمد خوارزمشاه د دربار يو لوى سړى و، ليكي: د چين نيول د سلطان ډير د پاملرنې وړ و، آن دا چې كه څومره ده د دربار مشرانو ورته مشوره وركړه، خو دى لـه دې فكر څخه نه

اوښت او له چين څخه له راغليو خلکو او د ترکستان له قصه وېونکو څخه به يې د چين د حالاتو په اړه پوښتنې کولې. په پای کې يې سيد اجل بهاؤ الدين د سفير په توګه چنګيز خان ته ور ولېږ. دغه سفير په لاره کې پيکنګ ته نژدې د طمغاج په سيمه کې د چنګيز په لاس د وژل شويو مړيو د هډوکو غونډۍ وليدلې او همدارنګه يوه توره او غوړه ځمکه يې وليده چې په هغې باندې د وژل شويو خلکو د بدن غوړي ښکاريدل. همدارنګه دغه سفير د شمالي چين د پاچا وزير او زوی وليدل چې چنګيز خان نيولي وو او د چنګيز په دربار کې بنديان وو. دغه سفير خپلې ليدنې کتنې سلطان ته وويلې. لکه هماغسې چې د سلطان نظامي څارګر د چنګيز د جګړه ييز ځواك په هکله په لاندې توګه يو ګزارش سلطان ته ورکړی و: د چنګيز د لښکر هر سرتيري خپله خان ته جامه جوړ وي او هر سرتيری ځانته وسله جوړ وي. د اردو له څارويو څخه غوښه او شيدې چمتو کوي او خوري يې. لنډه دا چې له اردو څخه بهر هيڅ شي ته اړ نه دي. څاروي يې د پراخه سارا په وښو او ګياه ماړه دي. دغه ډول لښکر تل په سختيو کې کلك او په ناوړه حالت کې صبرناك او مطيع وي او که سوبه و مومي هر څه غنيمت کوي او هيڅ ساکښ ژوندی نه پرېږدي. خو له دې ټولو سره سره سلطان چې ځان په رسمي توګه په منبرونو او خيرونو کې ځان (ظل الله في الارض) او (ثاني سکندر) بللی و. او ځومنې د سرو زرو عسکري ډول يې ډنګاوه. له خپل دغه خيال او د هوادونو د نيولو له فکر څخه او د چنګيز د له منځه وړلو له پلان څخه نه اوښت. دا په داسې حال کې چې چنګيز په پيل کې د اسلامي خوارزم له لويې امپراتوري سره د جګړې فکر نه درلود. بلکې هغه غوښتل چې د سلطان په سيمه کې سوداګرۍ ته وده ورکړي. چنګيز د ټولو تورکانو او مغلي قبايلو په مطيع کولو سره د سوداګريزو لارو امنيت ښه ډاډمن کړی و. کله چې د ماورالنهر سوداګريز کاروان له زنديجي رختونو، زري جامو او نورو ښايسته شيانو سره دده قلمرو ته ورسيد او دغه کاروان سره يې نامتو سوداګر لکه (احمد سمرقندي، احمد خجندي او د امير حسين زوی وليدل. نو دوی ته يې ښه راغلاست ووايه، د دوی مشران يې و منل او ښه ګټه يې ورکړه. د هغوی د بيرته تګ پر مهال يې له خپل لوري يو استازی د محمود يلواج په نامه له دوی سره د خوارزمشاه دربار ته ولېږ او له خوارزمشاه څخه يې د دوو دولتونو ترمنځ د دوستانه اړيکو او سياسي مناسباتو د ټينګيدو غوښتنه وکړه. خوارزمشاه مثبت ځواب ورکړ او ورپسې چنګيز خان د څلور سوه مسلمانانو او نا مسلمانو سوداګرو يو سوداګريز کاروان جوړ او له پريمانه سرو او سپينو زرو سره يې د خوارزمشاه هېوادونو ته واستاو تر څو هلته سوداګريزه راکړه ورکړه وکړي. خو د چنګيز خان ددې چلند په وړاندې سلطان محمد په (اترار) سيمه کې د خپل واکمن غاير خان په لاس د چنګيز خان ليږل شوی سوداګريز کاروان له منځه يووړ او د هغوی ټوله شته يې لوټ کړل. کله چې چنګيز له دې پيښې خبر شو، خپل استازی يې د خوارزمشاه دربار ته واستاو او وړانديز يې وکړ چې سلطان بايد د رسيدلی زيان تاوان ورکړي او قاتل غاير خان ورته تسليم کړي. خو سلطان لکه د ليونيو په شان د چنګيز خان دغه استازی هم اعدام کړ. همدا و چې چنګيز له تورانيانو سره را پاڅيد او لکه د سيلاو په شان په منځنۍ آسيا را واوښت او د آسيا په لويو ښارونو کې يې د تمدن ټولې نښې له منځه يووړې. د خوارزمو دولت چې د منځنۍ آسيا په وړاندې دروند مسئوليت

Scanned by CamScanner

درلود، د خپلې دندې له درانه بار څخه یې اوږې سپکې کړې او سلطان محمد چې مخکې یې د افغانستان غوري دولت، د سمرقند ترکان او د کاشغرستان قراخانیان له منځه وړي و، په خپله هم د دغو هېوادو له اداره کولو څخه عاجز او په حکومت کولو کې ناکام شو. په اصل کې دغه جابر او کبرجن سلطان چې د هند، ایران افغانستان او منځنۍ اسیا د سوداګرې ټولې لارې یې په واك کې وې او د دغو هېوادونو د اقتصادي ودې له امله ښه بډای او ځواکمن شوی و، پرته له ځان څخه یې په نړۍ کې بل ځواك نه پېژاند، هغه لویدیځ لوري ته د بغداد خلافت (چې په مسلمانانو کې یې ډېره اغېزه لرله) د خان په وړاندې ولمساو او په ختیځ کې یې د تورانیانو سارائي امپراتوري په هیڅ و نه ګڼله.
په داسې حال کې چې دده د پراخه قلمرو دننه هم ټولو خلکو دده له خپلسرې اداري څخه کرکه درلوده او خپه وو. د هغه حاکمانو به په سیمو کې په ظلم سره واك چلاو او خلك د مالیاتو له درانه بار لاندې او د فیوډالانو تر زور لاندې او د مامورینو د ظلم له کبله زپ زپ شوي و او چارواکو او فیوډالانو خپل عیش او نوش کاو. سلطان بیخي د خلکو په زور عقیده نه درلوده او د پاچاهي چلولو لپاره یې یواځې د عسکرو په زور ډډه لګوله. د سلطان مور، (ترکان خاتون) (چې د ختای د حاکم قدر خان لور وه) د خپل زوی د دولت دننه یوه بله ځانګړې خپلواکه دستګاه درلوده چې په لږ تیروتنې سره به یې خلك او آن دا چې د قلمرو دننه سیمو سیاسي یرغملان په سیند کې ډوبول. د بېلګې په توګه د طغرل سلجوق دوه زامن او د بلخ پخوانی والي عماد الدین او د هغه زوی بهرامشاه یې په اوبو کې ډوب کړل همدارنګه د ترمذ والي او د بامیان والي علاؤ الدین، د وخش والي جمال الدین عمر د سقناق دوه زامن، برهان الدین محمد صدر جهان او د هغه ورور، فخر جهان او د هغه دوه زامن امن ملك الاسلام او عزیز السلام او نور یې له منځه یوړل. میرمن ترکان خاتون خپله قبیله (قنقلي ترکان) د هېواد په سراسر کې خلاص مټ پرېښې وو چې د هیڅ ډول ظلم او تیري څخه یې ډډه نه کوله او له هیچا یې سترګه نه سوځیدله خلکو به هغوی (اعجمیان) بلل او د هغوی د تیریدو پر مهال به یې لاره پرېښوده او لرې به تښتیدل او چیرته به په کلاوو کې پټیدل ترڅو د هغوی له لوټ څخه ځانونه وساتي.
له دې پرته د سلطان چلند د قلمرو دننه دده له مور سره په تضاد کې و نو دغه ډول چلند ټول عمومي نظم ته ځنډ اچاو، د بېلګې په توګه سلطان چې په ټول هېواد کې د پاچا له زور پرته بل هیڅ زور نه پېژاند، په ټولنه او دولت کې یې د روحانیونو اغیز هم نه خوښید او هڅه یې کوله چې هغوی هم له منځه یوسي، حال دا چې ملکې ترکان د روحانیونو په زور ډډه لګوله او د سلطان په وړاندې به یې د هغوی ساتنه او ننګه کوله، په دې توګه د خوارزمشاهیانو د پاچاهي په ګیډه کې یو بل خپلواك ځواك د ملکې له خوا را منځته شو او دغه ځواك د سلطان اقدامات په اوبو لاهو کول، په دې توګه د دولت ډېر کار کوونکی او لوړ رتبه مامورین له ستونزو سره مخامخ کیدل او له دولت څخه یې کرکه پیدا کیده، آن دا چې دوی چنګیز خان ته مخ واړاو.
سلطان له ظاهري ډېر اوچت پرتم سره سره له معنوي پلوه یو ضعیف او خرافاتي سړی و، هغه په فال اچولو، ټوټکواو د منجمینو او ستورو پیژندونکو په خبرو عقیده درلوده په دې توګه د عمل په ډګر کې

Scanned by CamScanner

ددغو خلکو منفي اغیزې لاندې راغی او پښه یې وښوییده. سلطان به په افغانستان کې د سپینې او تورې دوو پیشګانو له جګړې څخه د چنګیز خان په وړاندې خپله ماته او بریالیتوب د فال په بڼه کوت، کله چې دده سپینه پیشو چې ځان یې ګڼلی وه ماتې و خوړه، نو په دې عقیده شو چې چنګیز خان په ده باندې بریالی کیدونکی دی. همدارنګه ده یوه شپه په خوب کې ولیدل چې یو شمیر د ګډوډو ویښتانو لرونکی خلك ژاړي. نو ده ددې خوب تعبیر داسې وکړ چې مسلمانان به د چنګیز په وړاندې له ماتې سره مخامخ کېږي. د دربار ستورو پیژندونکو ورته وویل چې: (... د طالعو له درجاتو څخه نیکمرغی تللې، نحوس (بد مرغی) راغلی او دغه بدلون به په تیاره بدل شي. د دښمن (چنګیز) په وړاندې احتیاط په کار دی، اقدام باید و نه شي...) په دې توګه د خوارزم ور وست دولت او موهوم پرست او خرافي سلطان په دغه ډول روحیاتو سره د یوه ځواکمن دښمن په وړاندې نه شو دریدلای. چنګیز خان په ۱۲۱۸ م کال کې د مغلو، د بودایي او نستوي ترکانو، ایغورو، قرلق، الماليق او د بالیغ او المالیغ مرستندویو ځواکونو په ګډون له یوه لوی او ځواکمن لښکر سره مخ په خوارزم حرکت وکړ چې ایدي قو او سقناق تګین هم ورسره وو. د خوارزم سلطان له نیشاپور څخه سمرقند ته ورغی او د بخارا له لارې د سیحون په لوری ولاړ، خو د لارې په اوږدو کې یې هم د عیش او عشرت او څښلو له عادت څخه څه کم نه کړل. دغه ځواکمن پاچا کله هم له ماتې سره نه و مخامخ شوی. نو چنګیز ورته هیڅ هم نه ښکارید. د مغلو قوماندانان (یمه) د خوارزمیانو له اټکل څخه ډیر لرې چې د سیحون غاړې یې نیولې وې، له کاشغر څخه فرغانې ته ننوتل، نو د سیحون جبهه د فرغانې ملاتړ کولو ته اړه شوه. مغلو له دغه فرصت څخه ګټه پورته کړه او د بالخاش له سیمو یې یرغل پیل کړ. سلطان له هغوی سره د قیلي او قمیچ د سیند ترمنځ مخامخ شو، خو د مغلو ځواکونو د سلطان د لښکر کیڼ اړخ مات کړاو د ټول لښکر د ماتې ګواښ یې وکړ. د سلطان د زوی، جلال الدین تر قوماندې لاندې عسکرو و کولای شول چې ددغې ماتې مخه ونیسي، خو سلطان لاس له پښو خطا کړ او بیرته ستون شو. هغه له یو ښار څخه بل ته پرته له جګړې څخه په تیښته کې و، د ماوراالنهر خلك د تښتیدونکی او ویریدلی شهنشا له تیښتې په حیرت کې وو سره له دې چې څلور سوه زره عسکر ور سره وو، دا ځکه چې ددغه سلطان هغه ظلم او لوی نوم چې له سیحون څخه تر عراق پورې یې واك درلود نوموړی د خلکو په ذهن کې د یو ډیر غټ انځور لرونکی جوړ کړی و. پاچا هم د خپل معنوی ضعف د پټولو په خاطر خلك د دښمن د لښکر د قوت او کثرت څخه ویرول او ویل یې چې د کلاوو کلکول او د ځان ساتنې لپاره هڅې بې ګټې دي.

د سلطان دغو خبرو او کړو وړو د خلکو زړونه مات کړل او جبهه له دننه څخه ماته شوه. خپلسري پاچا د جلال الدین او د اردو د افسرانو هغه وړاندیزونه رد کړل کوم چې هغوی ده ته ویل چې باید له ښارونو څخه قدم په قدم باید دفاع وشي او جنګي کلاوې باید کلکې شي او په خپله پاچا دی د چنګیز د مخنیوی لپاره مخته شي. د خپل ځان سره هغه لښکر چې درلود یې د ماوراالنهر څخه د دفاع په پلمه ولیږل. د خوارزم پلازمېنې ته یې امر وکړ چې شاهي کورنۍ دې ایران ته ولیږي. نظامي سردارانو بیا وړاندیز وکړ چې د ماوراالنهر غلطي دفاع ماوراالنهر دښمن ته تسلیم کړ. باید ټول پوځ له ماوراالنهر څخه

Scanned by CamScanner

نیزې په څوکو په دفاعي خط واړول شي او د جیحون غاړې باید د افغانستان (خراسان) ته را وګرځول شي او ترڅو افغانستان او ایران له لاسه و نه وځي، په وروستي پړاو کې دې په غزني کې مرکزیت جوړ شي او د زړورو خلکو په مرسته دې دفاع ته دوام ورکړل شي، هندوستان به هم وروستی سپر وي، خو سلطان و نه منله او د نخشب او ترمذ له لارې د بلخ ښار ته راغی او بې له ځنډه مخ په نیشاپور روان شو.

جلال الدین ژمنه وکړه چې که اردو ده ته وسپارل شي په شمال کې به د چنګیز خان مخه ونیسي او په کلات کې بې د اردوګاه د جوړولو نظریه هم رد کړه او له نیشاپور څخه ری ته روان شو. په هغو ورځو کې چې هغه په نیشاپور کې و، ټولې ورځې یې په عیش، څښلو، سرود او ساز او د ښځو د جامو په جوړولو او د سندر بولو ښځو په سینګار تیرې کړې او په دربار کې د تدبیر او تورې د خاوندانو پر ځای د نشاط او عشرت پلویانو ځای ونیو ترڅو خلك اړ وتل چې د خراسان د وزیر مجیر الملك د کور مخې ته ورټول شي او د وزیر له نه کار کولو څخه شکایت وکړي او د کارونو د ځنډ او ځنډ په هکله عرض ورته وکړي هغه ورته ځواب ورکړ چې ستاسي شکایت سم دی، خو زه څه نشم کولای ځکه چې د سلطان امر واجب دی او زه د سندربولو ښځو په خوراك برابرولو او هغوی ته د جامو په جوړولو بوخت یم. ترڅو دغه چارې بشپړې نه شي له نورو چارو څخه منع شوی یم (جهان ګشای جویني- دوهم ټوك). سلطان له رې څخه په منډه د همدان په دیرش فرسخه واټن کې فرزین کلا ته ولاړ. د سلطان بل ځوی رکن الدین له دیرش زره عسکرو سره مشوره وکړه چې په (شیران کوه) کې سنګر و نیسي او د (هزار اسپ) د سیمې ملك د لس زره ساتونکو د را ټولولو ژمنه وکړه، خو سلطان و نه منله او خپل حرم یې د خپل دریم زوی غیاث الدین سره یو ځای تاج الدین ته په قارون کلا کې واستول او خپله د بغداد په نوم سرجاهان کلا ته ولاړ او بیا له هغه ځایه ګیلان او بیا اسپیدار ته ولاړ په پای کې یې له دابوبي څخه د آبسکون ټاپو ته پنا واخیسته لږ موده وروسته په قزوین کې د هغه ځای یو بل ټاپو ته ولاړ چې هلته ډیر ژر په ۱۲۲۰ کې د معدې د ناروغي او د اعصابو د ګډوډي له امله مړ شو.

جلال الدین امر وکړ چې د مازندران واکمن دی د هغه مړی په (د ماموند) کې د (اردهین) کلا ته یوسي او هلته دې خښ کړي، د شهزاده جلال الدین له غایب کیدو څخه وروسته د دښمن لښکرو د سلطان هډوکي له قبر څخه را وویستل او د چنګیز زوی (اوګدای) ته یې ولیږل. هغه امر وکړ چې هغه وسوځوي او ایرې یې باد یوړې. په دې توګه په ختیځ کې یو لوی دولت له پښو ولوید او د منځنۍ آسیا په تاریخ کې یو بل نوی څپر کې پرانیستل شو. د پلار له مړینې څخه وروسته جلال الدین چې نور یې د پلار اطاعت کول په غاړه نه و د افغانستان پر خلکو باور وکړ او د دفاع لپاره ډیر زیات خلك د هغه پر شاوخوا را ټول شول او د افغانستان د ساتنې لپاره جګړه پیل شوه. خو په ۱۲۲۱ کې یې د چنګیز خان ځواك ته د پروان په سیمه کې ماتې ورکړه، خو کار له کاره تیر و، د دښمن بې شمېره ځواکونو ټول ماوراالنهر او شمالي افغانستان نیولی و او آن د ایران دننه هم ننوتلی و او دا وخت د هېواد زړه ته راړ رسیدلی و او مخ په ختیځ روان وو. جلال الدین د یوې پریکړونې جګړې په خاطر مخ په غزني روان شو، او یوه لویه اردو یې جوړه کړه، په داسې حال کې چې په پروان کې د دښمن پر پوخ دده بری د شمال ټول ولایتونه پر دښمن

Scanned by CamScanner

باندې د بري او د شمال ولایتونو د بیرته تر لاسه کولو لپاره پاڅون ته و هڅول، ددې په وړاندې چنګیز خان چې د افغانستان د خلکو لومړی ګوزار یې په پروان کې خوړلی و را و پاراو او امر یې وکړ چې فتح شوي ښارونه دې ونړول شي او خلک دې ډله ډله وووژل شي. په همداسې یو حال کې د غزني په لښکر کې دننه د بې اتفاقي اور ولګید جلال الدین چې د چنګیز د راتګ په تمه و دې ته اړوت چې مخ په ختیځ روان شي او د اردو او پوځ د بیا جوړولو په فکر کې شو، خو چنګیز چې د بامیان له نړولو وروسته په جلال الدین پسې و، پنځلس ورځې وروسته غزني ته ورسید، هلته یې د نړولو وخت و نه موند، آن دا چې د ډوډۍ وخت هم ورته برابر نه شو په ګړندي ډول مخ په ختیځ په جلال الدین پسې روان شو. جلال الدین د سند تر غاړې د دښمن د ځواکونو له خوا کلا بند شو، خو په زړورتیا سره یې د دښمن کلابندي ماته کړه او له سند څخه پورې وت، دښمن تر پنجاب پورې جلال الدین پسې و، خو هغه یې و نه موند، له هغه وروسته جلال الدین په پنجاب او ایران کې ډیره هڅه وکړه، آن آذر بایجان یې بیرته ونیو او د خپل دولت لنډ مهاله پلازمېنه یې جوړ کړ، خو ګټه یې و نه کړه، دا ځکه چې د چنګیز امپراتوري ټوله آسیا خوځولې وه او جلال الدین یې لټاوه. په ۱۲۳۰ کال کې د چنګیز د ځای ناستی (اوکتای خان) لښکر له خوا جلال الدین د ایران په وروستۍ جګړه کې له ماتې سره مخامخ شو او کردستان ته وتښتید. دغه زړور سړی د تل لپاره همالته د خلکو له سترګو پټ شو. د پروان له جګړې څخه وروسته د جلال الدین شاته تګ او غزني ته تګ او بیا له غزني څخه سند ته د تګ پر مهال د خوارزم شاه سلطان محمد د پوځ یو تکړه افسر (براق حاجب) په کرمان ولایت لښکر وروست، په ۱۲۲۲ کال یې هلته یو لنډ مهال حکومت جوړ کړ چې، اته تنه تر ۱۳۰۳ کال پورې هلته په واک کې شول. براق داسې یو چلند غوره کړ، چې نه یوازې د مغلو له یرغل څخه بچ پاتې شو، بلکې او کتای خان هغه ته مغلي لقب (قتلغ خان) هم ورکړ، همدارنګه ددغه سیمه ییز حکومت کورنۍ له مغلو سره په خپلوي کولو سره د هغوی د پام وړ و کرځیدل، آن دا چې ددغې کورنۍ دوه تنه ښځې (قتلغ خانم او باد شاه خاتون) د کرمان چارواکې شوې. په پای کې دغه سیمه ییز حکومت د ایران د مغولي پاچا (الجایتو خان) پر مهال و پرځید او الجایتو د کرمان د حکومت چارې ملك نصر الدین محمد بن برهان الدین غوري ته وسپارلې. له هغه وروسته تر ۱۳۳۹ کال پورې د کرمان د حکومت چارې د ملك نصر الدین غوري د زوی قطب الدین نیکروز په لاس کې پاتې شوې، په ۱۳۴۰ کې حکمران ال مظفر فارس (مبارز الدین) کرمان له قطب الدین غوري څخه ونیو، په دې توګه محلي حکومت پای ته ورسید.

# اتم څپرکی

## د اسلام له خپریدو څخه د چنګیز تر یرغل پورې د افغانستان اوضاع

## لومړی
## ټولنیز طبقات

په دریمه او څلورمه پیړۍ کې د کوشانیانو د دولت له نړیدو وروسته، افغانستان په یوه مخ په خوړ اقتصادي او کلتوري حالت کې و، یعنی کله چې د مرنیتوب نظام د له منځه تګ په حال کې و، نو هېواد د فیوډالیزم لومړي پړاو ته ور ننوت، د اسلام د راتګ پر مهال عربو سوبمنو په افغانستان کې نیول شوې کرنیزې ځمکې د بیت المال مال وباله، بیا یې د ټاکلو مالیاتو په ورکولو سره د فیوډالانو، سیمه ییزو لویو کورنیو او عربانو په واک کې ورکولې. دېدغه چلند پایله د فیوډالي مشروط ملکیت د سیستم ټینګیدل و. یعنی فیوډالي اقتصادي او ټولنیز جوړښت چې له اسلام څخه مخکې را پیل شوی و، د اسلام په دوره کې مخ په بشپړیدو شو. سره له دې چې اسلامي لارښوونو پخوانۍ طبقه بندي او امتیازات منع کړل او خلك یې د قانون په وړاندې مساوي ګڼل، خو په عمل کې له اقتصادي او سیاسي پلوه واکمن قوت او اشرافو او سیمه ییزو خانانو ممتازه طبقه جوړوله. همدارنګه له حقوقي پلوه د ښځې او نارینه او آزاد او مرئیي ترمنځ توپیرونه لیدل کیدل، چې ورو ورو د قانون په وړاندې د خلکو مساوي والي چې د نسب د تړاو له امله په دوه برخو وویشل شو: شریف النسب او عام الناس له منځه ولاړ. توپیر د نسب له مخې له منځه ولاړ خو دولت د خلکو عدم تساوي د شتمني، نژاد، کورنۍ، شغل او پیشې له مخې خپل نصب العین باله، نوله دې امله چې «د سطنت الهی حق» فرضیه باندې عقیده موجوده وه، نو خکه د هغه اتباع، یعنی ټولنه بې له هواو نه څخه د پاچا فرمانبردار وواو څواکمنه او فرمان چلوونکی طبقه هم د خپلو اعمالو له امله فقط په بله دنیا کې ځواب ورکوونکی اود خدای په نزد مسئول وو او بس.

په هر حال؛ د عربو له نیولو وروسته او د اسلام په راتګ پسې په افغانستان کې سیمه ییزو فیوډالانو ورو ورو په خپله سیمه کې د عباسي عربي اداري کې دننه واك و موند او له عربي واکمنو سره په ګټو کې شریك شول، خو د ملت او خلکو د مالیاتو بار لا دروند شو. له همېد امله و چې په عباسي دوره کې

Scanned by CamScanner

په شمال ولایتونو کې او د هېواد په لویدیځ کې د خلکو پاڅونونه زیات شول او دغو پاڅونونو زیاتره اقتصادي بڼه درلوده چې هم د عربو پر ضد او هم د سیمه ییز خانانو پر ضد وو، حال دا چې مخکې تر هغه د (امویانو پر مهال) دغو پاڅونونو زیاتره سیاسي بڼه درلوده او د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په موخه وو او د عربو د واك د لرې کولو لپاره تر سره کیدل. د اسلام له خپریدو وروسته د چنګیز تر راتګ پورې د افغانستان دخلکو ټولنیز مهم جوړښت د دریو طبقو پر بنسټ ولاړ و. لومړۍ طبقه فیوډال (اشراف او ملاکان یا ځمکوال او روحانیون) وو، چې حاکمه خواك و. دوهمه طبقه منځنۍ ښاري طبقه وه (سوداګر، مامورین او پیشه وران)، دریمه طبقه بزګران وو. په افغانستان کې فیوډالي سیستم له اوومې پیړۍ څخه تر دیارلسمې پیړۍ پورې چې مغل راغلل، کلك شو. ښکاره خبره ده چې دې سره یو ځای د بزګرانو ژوند وار په وار تریخ شو او له دوی څخه په بیلا بیلو نومونو مالیات او عوارض اخیستل کیدل. په دغو دورو کې لومړۍ طبقه د زیات شمیر ځمکو، څارویو او شتمنۍ لرونکی و چې هم یې ثابته شتمني درلوده او هم یې ناطقه شتمني درلوده او دوی له مالیې ورکولو او بیګار څخه هم معاف او د سیاسي لوړ امتیاز لرونکي او په خپله سیمه کې د قضایي واك لرونکی هم. دوی ښاري کلتور هم درلود چې ښه هوسا ژوند یې درلود. په افغانستان کې د مرئیانو سوداګري هم حاکمه طبقې پورې اړه درلوده. دوی هر یوه له لسو څخه نیولې تر سلو پورې مرئییان او وینځې درلودې. لویو وزیرانو او افسرانو له سلو زیات مریییان لرل. د سلطان محمود وزیر حسنك شپږ سوه تنه مرئییان لرل، چې په نیشاپور کې یې د هغوی د اوسیدلو لپاره یوه لویه ودانۍ جوړه کړې وه. د پاچا د مرئییانو شمیر تر څلو زرو تنو پورې رسید. د مرئییانو سوداګرو به په دغو مرئییانو ډیرې ګټې کولې. دوی به ترك غلامان له کاشغرستان، ماورالنهر د سیحون له پورې غاړې او تلغار (دولګا سیند ترڅنګ) څخه را وستل او له دې ځای څخه به یې له سوداګریزو مالونو سره یو ځای ایران او نژدې ختیځ ته وړل. دولتونو به ددغو امتعو ډیر ښه هر کلی کاو. دربار به زیاتره د ځان د ساتلو په خاطر د مرئییانو له ګارد څخه کار اخیست. همدارنګه درباروڼو یو بل ته د باج او سوغات په لیږلو کې دغه شریف جنس د څارویو او نورو اجناسو په لومړي ردیف کې لیږل. په ښارونو کې د مرئییانو له سوداګرې پرته یو بل ډول دلال مریي هم و چې د دوهم لاس جنس په توګه به د مرئییانو او وینځو له سوداګرو څخه پیرودل کیدل او بیا به په کورونو کې روزل کیدل. دوی ته به سندرې ویل، خذمت کول او سواد هم ورښودل کیدل، بیا به په ډیره لوړه بیه د هېواد پر لویانو پلورل کیدل او له دې لارې به یې ګټه کوله، خو دا د کرکې وړ وو. د بېلګې په توګه یو دا ډول سوداګر ابو القاسم رازی نومید، چې په نیشاپور کې اوسید او دغه کار یې پیشه وه، د سلطان محمود ورور امیر نصر د هغو وینځو په بدل کې چې ده ورته وړاندې کړې هغه ته یوه لونګۍ او یو څه انعامونه ورکړل. هغه دا ټول د نیشاپور خلکو ته و ښودل او هغه ته ورکړل شوی عنایت نامه خلکو ته ولوستل شوه او وروسته له دغې پېښې به ابوالقاسم لکه د اشرافو په شان په یو آس سپور و او شاطر به یې رکاب نیولی و، خلك به د هغه درناوي ته حیران وو او راز راز خبرې به یې پسې کولې. قاضي بوالهیشم نیشاپوري هم یوه ورځ په غوسه شو او ابوالقاسم ته یې وویل: په یاد ولره چې قواده ګی (دلالی او بې

غیرتي، تر قاضي توب څخه غوره ده. بوالمظفر برغشي چې د سامانیانو یو پخوانی وزیر وا په نیشاپور کې اوسید، د کنیزانو یعنی وینځو د سوداګر له لیدلو وروسته دومره زړه ماتې شو او کله یې چې د هغه شاطر ولید نو ډیر ژر یې خپل شاطر و شاړه کله چې غزنوي محمود له دغو خبرو څخه خبر شو، خپل ورور یې ښه ملامت کړ او خپلو زامنو ته یې نصیحت وکړ چې د غاشیه کښلو په برخه کې اداب په پام کې ونیسي. دغه کیسه دا څرګندوي چې فیوډالانو او اشرافو سوداګر له خان سره برابر نه ګڼل. دوهمه طبقه په ښارونو کې په ډاډه ژوند کې اوسیدله. دوی په کلتور کې او په تمدن کې برخه درلوده او خپل صنفي او سوداګریز مالیات یې دولت ته ورکول. ښاري صنعت کارانو خپلې صنفي اتحادیې درلودې او هر صنعت خپل مالیات دولت ته ورکول. په کلیو کې ډیر لږ شمیر صنعت کاران وو چې د فیوډالانو او بزګرانو اړتیاوې یې پوره کولې لکه ترکاڼ، پینښ، ګنډونکی، اوبدونکی، ټتار، بنا او نور. دریمه طبقه زیاتره د ملت اکثریت و چې هغه بزګران وو چې دوی په کلیو کې په خټینو کورونو کې اوسیدل یا یې هم په دښتو کې کیږدۍ درلودې. د دوی کار کرنه او څاروي روزنه وه چې مدني او کلتوري وسایل یې په واک کې نه و. په عمومي توګه بې سواده وو. مالیات، بیګار، سیورسات، د جګړې پر مهال جنګ ته تګ او د فیوډالانو شخصي درنو کارونو ته تګ د همدوی پر غاړه وو. دوی ته د نړۍ د تمدن ښه بېلګه (خان) او د کلتور ښه نښه (جومات) او (ملا) و. د ملا ښوونې هم ټولې شفاهي وې چې یواځې یو څو ټکي وعظ او نصیحتونه وو. په دغو دوعظونو کې حلال او حرام پیژندل و او اندرز او نصیحت پکې شامل و چې خلك له نړۍ او هیلو څخه زړه وشکوي او په بله دنیا باندې راضي وي. په سختیو کې صبر وکړي او فقط د اسلامي دولت اطاعت وکړي. ددغو ټولو تلقیناتو پایله دا وه چې خلك پیښو ته تابع وي، توکلي عادت شي، او په ټول ژوند کې مطیع وي همدا و چې ژوند په یوه حال کې ولاړ و او د هر ډول بدلون او تحول مخه نیول کیده. د افغانستان په فیوډالي سیستم کې د پاچا له څواك سره د فیوډال واك سرچپه انډول درلود، د یوه درونډ والي د بل سپکوالی و، خو د پاچا او مرکزي دولت پله د فیوډال په پرتله تل درنه وه. د افغانستان دولتونو چې د عربو د واك موندلو د مخنیوی لپاره مرکزیت موندلی و، د روحانیونو او فیوډالانو په سر کې و. لاسپوڅي روحانیون د پاچا د درنښت ستایوال وو او فیوډال به هم د پاچا رکاب مچاوه، له دې پرته په اسلامي تعلیماتو سره بزګر خپلواك ژوند کاو او قانوناً له ځمکې سره یې هم تړاو نه درلود، خو عملاً د ژوند تیرولو او اوسیدلو لپاره بې ځمکې چاره نه وه. د شغل غوره کول، تحصیل او پیشه زده کول او په لوړه طبقه کې شمولیت ممکن و، آن دا چې مرئییانو چې زیاتره په ښارونو کې ژوند کاو او په کورونو کې به په خدمت بوخت وو، کولای شول چې خپل ژوند کې ټولنیز پرمختګ وکړي. زیات شمیر داسې مرئییان ول چې افسري، فرماندهي او آن پاچاهي ته رسیدلي وو. د همدغې نسبي آزادي پایله وه چې د افغانستان خلك د اسلام په دوره کې وتوانیدل چې په لسګونو او سلګونو پوهان په ټولو علمي او فني څانګو کې ولري او په سیاست او نظام کې هم ښې وتلې څیرې ولري.

فیوډال د بزګر له کار او له ځمکې څخه ډیره ګټه اوچتوله. کوچنی ځمکوال، بزګر او صنعتګر به د هغه تر

Scanned by CamScanner

اطاعت لاندې وو. د فیوډال مشرتوب میراثي و چې د پاچا د منشور له مخې تائید او د منلو وړ ګرځېد. لوی روحانیون لکه ۱ فیوډالانو په شان شتمن او د ځواك لرونکي ول. هغه مهال د افغانستان اقطاع لرونکي لوی فیوډالان به له سلو تنو کم او منځني فیوډالان چې د تیول لرونکي وو له زرو تنو څخه کم وو. دغو فیوډالانو کې یو شمېر و چې د هنر او ادب ملاتړ یې کاو او عام المنفعه ودانۍ یې جوړولې. د بېلګې په توګه ابو الفضل سوری د غزنوي دورې په خراسان کې یو د دیوان لرونکی و چې د خلکو ویني یې څېښلې او د څلور میلیونو درهمو په بیه یې سوغاتونه پاچا ته لېږل او پنځه سوه ځلې یې د غزني سلطان ته دا ډول سوغاتونه ورکړي وو او لمونځونه به یې کول او زیارتونه یې جوړول. بندونه یې جوړول او له خلکو څخه به یې کلي یې پیرودل او بیا به یې وقف هم کاو. همدغه سړي په طوس کې د علی بن موسی الرضا په مزار ودانۍ جوړه کړه او د فراه او نسا ترمنځ لاره کې یې پړاوونه جوړ کړل. سوداګرو هم د عامه ودانیو په جوړولو کې له فیوډالانو سره سیالي کوله. د بېلګې په توګه همدا د غزنویانو پر مهال یو سیلاو راغی او د غزني په بنار کې یې د بامیان په نوم یو پول یووړ، ډېر ژر د غزني یو سوداګر چې (عبویه) نومید یو طاقه ښایسته او کلك پول یې جوړ کړ چې بیهقي د هغه یادونه او ستاینه کړې ده. بو الحسن عراقي د مسعود د مهال منشي د مشهد وچ شوی کاریز بیا روغ او اوبه پکې و بهیدې او یو داسې کاروان سرای یې جوړ کړې چې نوم یې درلود او یو کلی یې و پیرود او د کاریز او کاروان سرای د ساتلو په خاطر یې في سبیل الله وقف جاري کړ، په داسې حال کې چې خپل کلی کې یې د دیوان له لارې پیسې ټولې کړې وی او څو څو ښځې او ودونه یې کړي وو، آن دا چې یوه سندر بوله ښځه یې هم وکړه، چې دا مهال دده نورې ښځې د کسات اخیستو په نیت را پاڅیدلی او په زهر جنو خوړو یې هغه ووژله. په دې توګه د افغانستان د هغه مهال فیوډالیزم د اروپا فیوډالیزم سره توپیر درلود. په دې معنا چې د اروپا فیوډالان تر پاچا هم ځواکمن وو او یو شمېر (سینور واسالان) د پاچا په رعیت کې نه راتلل. د اروپا دولتونه لا په هغه مهال کې متمرکز نه و. په یوولسمه پېړۍ کې لا هم ایټالیا کلیسا ته تابعداره او ور پورې تړلې وه چې د پاچایانو لری کول او کینول یې هم په واك کې و. ایله په همدې پېړۍ کې انګلستان وکولای شول چې د یوه واحد دولت لرونکی شي، فرانسه له سیاسي او اقتصادي پلوه فقط په پنځلسمه پېړۍ کې و توانیده چې متحده او یو موټي شي. جرمني لکه د فرانسې په شان په بیلا بیلو سیمو او خپلواکو دوك میشته سیمو ویشل شوی وه. د اروپا بزګر زیاتره د سرف بڼه درلوده چې د خان او مال واك یې د فیوډال په لاس کې و. په افغانستان کې سره له دې چې پاچاهان تر سیمه ییزو فیوډالانو ځواکمن او د زیات واك لرونکي وو، خو د دولتي واك پر سر د فیوډالانو ترمنځ سیالۍ تر ډېرې مودې پورې روانې وې.

# دوهم

# اقتصاد

د افغانستان د اقتصاد بنسټ پر کرنه ولاړ و. له اسلام څخه پېړۍ پېړۍ مخکې په افغانستان کې کرنې ښه پرمختګ کړی و او څاروي روزنې د خلکو ژوند ښه ډاډمن کړی و. په دې دوره کې د افغانستان کرنې او مالداري وده وکړه، او د ابو لګولو وسايلو ترقي کړې وه. ويالې، کانالونه او د اوبو بندونه جوړ شول، د اوبو ژرندې، بادي ژرندې او ارهټونه جوړ شول، د کرنيز کار وسايل له لرګي او وسپنې څخه جوړېدل. د افغانستان طاهري، صفاري، غزنوي اوغوري دولتونه ټولو د کرنې په پرمختګ کې پاملرنه وکړه، دا ځکه چې د دولت تر ټولو ثابت عوايد کرنيز ماليات وو. بڼ روزنه هم ښه د پرمختيا په حال کې وه. د هېواد په بېلا بېلو برخو کې په شنو څړ ځايونو کې پوره اندازه څاروي روزل کېدل. باختريان اسونه او اوښان، د تخارستان آسونه او د سيستان غواوو ډېر نوم درلود، وربشې او غنم، پومبه، وريجې، انګور، مميز، بادام، پوځه او خيدك ډېر زيات توليدېدل. د هېواد له معدنونو څخه سره زر، سپين زر، وسپنه، مس، قلعي، جيوه، سرپ او نوشادر ايستل کېدل. کوچنی صنايع ښه پرمخ تللي وو، نساجي په تېره بيا نازك رختونه، څرمن ګنډل، فلز کاري، غالۍ اوبدل، د مسي لوښو جوړول، وسله جوړول په تېره بيا مرصع تورې، صابون جوړول، يراق جوړول او نورو ښه پرمختګ کړی و، د زرګري، مسګري، پښګري، بنايي، ترکاڼي ټټاري، انځورګري او نورو په برخو کې ډېر ښه پرمختګونه شوي وو. دولتونو صنعتکاران هڅول او ظريفه صنايعو ممتازې طبقې ته اړتيا درلوده. په ښارونو کې سره او سپين زرو د درهموا و دينار په نوم کونډه کېدل او مسي فلس هم رواج وو (دې ټولو د نن ورځې د پيسو په شان چلند درلود)، د سکو وزن او معيار په بېلا بېلو اسلامي هېوادونو کې بېل بېلو، ځينې ځايونو کې د درهم وزن تر اتو درنګو پورې هم رسيد، همدا رنګه د بېلا بېل فلزاتو له مخلوط لکه له سپينو او مسو، سرو زرو او سرپ يا هم قلعي څخه سکې کونډه کېدې بيا به په بېلا بېلو نومونو يادېدل لکه غطريقي درهم او نور. په ماورالنهر او خوارزم کې د درهمه ارزښت څلور دانګه و. بيا هم په عمومي توګه د سپينو زرو يو درهم شپږ دانګه و، هر دانګ دونيم قيراط کېد، هر قيراط څلور دانې و. په دې توګه يو درهم پنځلس قيراط وزن درلود. په يو ولسمه پېړۍ کې د بيهقي په وينا د افغانستان د سپينو زرو د د رهم عيار، د سپينو په لسو درهمو کې، نهه نيم يعنی په سلو کې پنځه نوي و. يا د بارتولد په وينا: په نهمه پېړۍ کې د سپينو زرو بخارا يې درهم په سلو کې د اوه نوي خالص وزن په لرلو سره تر ټولو خالص درهم و چې په ټوله منځنۍ آسيا کې چليد، د افغانستان يو دينار د هغه مهال شل درهمو سره برابر و چې وزن يې يو مثقال و. حال دا چې په همدې پېړۍ کې د افغانستان درې نيم ديناره د ناصر خسرو بلخي په وينا د

Scanned by CamScanner

مغربي (مصري) درې دینارو سره برابر و. د عربستان په صحرايي سیمو کې یو اوښ په درې دیناره و چې ډېره پېرودنه او پلورل په همدې خراساني دینار سره کېده. په اتمه پیړۍ کې د اموي دولت مسکوک دینار دوه ویشت قیراط وزن درلود او د یوه قیراط اجزا. د اسلامي طبي وزنونو له مخې په دې توګه وو: دوه خردله له یوه برنج سره برابر و، دولس برنج یو شعیره، شپیته شعیره یوه حبه او درې حبې یو قیراط کېد. ۴۸ حبې – یو درم او ۸۴ حبې یو مثقال کېدی. د هغه مهال دینار د نن ورځې په حساب د یوه انګلیسي کیني په نیمايي وزن درلود.

طبي پخواني وزنونه اوس هم په افغانستان کې په لاندې ډول رواج دي: دوه خردله یو ارزه، دوه ارزه یو شعیره، شپیته شعیرې یوه حبه او درې نیم حبې یو نخود، درې نخوده او نیم حبه یو دانګ، ۲۴ نخوده یو مثقال، اوه نیم مثقاله یوه اوقیه، ۱۸۰ مثقاله یو من، یوا بریق دوه منه، یو استار څلورنیم مثقاله، درې حبې یو قیراط، یو ابولات نهه قیراط، یو باقلي نیم درم، یو بندقه یو درم، یوه جزه (جوزه) نهه درهمه، یوه خرمه څلور مثقاله، یو حصه څلور صحیح څلورمه دجو، یو خرنوب یو قیراط، یو درضمي یو مثقال، یو رطل دولس اوقیې یا ۹۰ مثقاله یه ۱۳۰ درهمه، یو سکرحه شپږ استار، یو صالح څلور منه، یو صدفه نهه اوقیې، یو مثقال ۸۴ حبې، یو کیل ۳۰۰ درمه، ۸۴ حبې یو درم، نیم مثقال یا ۴۸ حبې یو درهم.

خو د نن ورځې په کابل کې یو سنګی درم ۱۸ نخوده یا د مثقال درېیمه برخه کېږي. څلور جوداني یو رتی، اته رتي یوه ماشه او دولس ماشي یوه توله کېږي. په اسلامي هند کې فلزي مسکوکات د پیسې په نوم یادېدل چې یوه توله وزن یې او دا ۱۲ ماشې کېدل او د سرو زرو مسکوك د اشرفي په نوم یادېد چې نهه ماشي او شپږ رتي کېد. څلوېښت سیره یو من کېدل. خو بیا هم په ټولو اسلامي هېوادو کې وزنونه یو شان نه وو. خینې وخت په هغو کې توپیر تر سترګو کېد. د بېلګې په توګه په افغانستان کې یو رطل دولس اوقیه یا ۹۰ مثقاله یا ۱۳۰ سنګي درمه و، خو د (اخلاط) په ښار کې یو رطل ۳۰۰ سنګي درمه او په میا فارقین کې یو رطل ۴۸۰ درهمه و. هغه مهال دوه ډوله مثقال و. یو یې ۴.۷۵۰ جرم، بل یې ۴.۲۹ جرم. حال دا چې دینار ۴.۲۵۰ جرم و. وروسته بیا په افغانستان، ماورالنهر او هندوستان کې د سپینو زرو ټنګی د سپینو زرو د درم ځای ونیو. په څوارلسمه پیړۍ کې هندي ټنګه ۱۲ فلزي پیسې او د افغانستان ټنګه ۲۰ مسي پیسې کېدی. درې ټنګی یوه د سپینو زرو روپۍ او ۲۰ روپۍ یو مثقال د سپین زرو.

په یوولسمه پیړۍ کې د افغانستان په ښارونو کې یو من غنم یو درم او په حاصلخیزه کلیو کې اوه منه یو درم کېدل. حال دا چې په همدې پیړۍ کې د ایران په اصفهان کې اته منه ډوډۍ یو درم او په ارمنستان کې سل منه شات یو دینار او د ارزن په ښار کې دو سوه منه انګور یو دینار او په مصر کې ۱۰ منه د بادامو مغز یو دینار بیه درلوده خو د غلې دانې د قحطي پرکال په همدې پیړۍ کې د اړتیا وړ شیانو بیې ډېرې اوچتې شوی، د بېلګې په توګه کله چې د شمال لوېدیځ افغانستان په ولایتونو کې قحطي راغله د یو من غنمو بیه ۱۳ درمه شول او د یو قلبي ځمکې بیه له زر درمو څخه دوه سوه درمو ته را ټیټه شوه. دا ځکه چې د کرلو لپاره تخم نه و همدارنګه د ښځو د ګاڼو بیې ټیټې شوې، د بېلګې په توګه یوه بغدادي

آیینه چې پخوا یو دینار وه په دې قحطي کې درې درمو ته را ټیټه شوه. د شمالي ایران په قحطي کې د وربشو یو من ډوډۍ دوه درمه شوه، په اصفهان کې د غنمو یو من ډوډۍ دوه درمه، په اصفهان کې د غنمو یو من ډوډۍ یو ارم شوه. شو حال دا چې مخکې تر هغه اته منه په یو درم وه. د مکې په قحطي کې خلور منه د غنمو ډوډۍ یوه نیشاپوري دینار ته ورسیده. په عادي حال کې د بېلګې په توګه یوه پنځ ډوډۍ په قوینه کې یو اقچا باندې پلورل یده او ۱۲۰ اقچایو سلطاني درم سره برابر و. د ډوډۍ دروند والی هم زیات و چې په یو وخت کې یې دوه ټنه ماره کول. په سوریه کې زیاد تر وخت یوه پخه ډوډۍ یو من وه چې ۱۸۰ مثقاله یا د کابل او نیم خورده کیده. یو قلبه اعلی کرنیز ځمکه (۲۰-۳۰ جریبه) د افغانستان د لویو ښارونو شاوخوا کې زر درهمه کیده.

یو جریب ځمکه څلور قفیزه او یو قفیز ۱۴۴ زرع کیده. د هېواد له کرنیزو ځمکو څخه یوه برخه د حاکمه طبقاتو په اقطاع او تیول کې او یا هم د وقفي ځمکې په توګه روحانیونو سره وه. روحانیونو او لویو ځمکوالو به خپلې ځمکې ټوټه ټوټه بزګرانو ته په اجاره ورکولې او دوی هر یوه به یو تن د «وکیل» په نوم د ځمکې د څارنې لپاره ګوماره. وکیل به له بزګرانو څخه مالیه ټولوله او له شپنو څخه به یې د رمې حساب او «کله مالك» را ټولول. د افغانستان سوداګري د ترانزیت له پلوه او له هندوستان ایران او چین، ماورالنهر او د بُلغار «دود سیند تر غاړې» او روسي سره د صادراتو او وارداتو له مخې ډېره ښه آیه او ښه روانه وه «هغه مهال دوه هېوادونه د بلغار په نوم وو یو یې د دانیوب پر غاړه چې اوس هم شته او بل یې د ولګا د سیند منځنۍ برخې ته نژدې چې بیا مسلمانان شول او په لسمه پیړۍ کې د خلیفه عباسي المقتدر سفیر هلته ورغی. په دیارلسمه پیړۍ کې د بلغار د ښار څرمن او مرئییانو ډېر نوم درلود، خو مغلو ویجار کړ، او په څوارلسمه پیړۍ کې دغه ویجاړونې د روسانو له خوا بیا وشوې او بلغار له منځه ولاړ. افغانستان د سامایانو له دورې څخه د چنګیز تر یرغل پورې له دغه بلغار سره ښه سوداګري درلوده». د زرګونو آسونو او اوښانو کاروانونه به ددغو هېوادو په لارو کې تګ راتګ کاو. د افغانستان د طاهري دولت مسکوك او د بلخ، اندراب او نیشاپور د ښارونو کونده شوي مسکوکات چې په روسیه او سویډن کې موندل شوي دي، د همدې سوداګرۍ او تجارتي اړیکو ثابتوونکي دي چې د افغانستن او د اروپا د شمال ترمنځ روانه وه او له هغه راهیسې زر کلونه تیر یږي، د چین، هند او منځنۍ آسیا مالونه به ددغو کاروانونو په ترڅ کې د ایران له لارې د مدیترانې ترغاړو رسول کیدل، ددغو کاروانونو مالونه به انسانان، څاروي، رختونه، عطر، درمل، فلزي وسایل، قیمتي ډبرې، کاغذ مسي او ښیښه یي لوښي، وړۍ، څرمن، پوستکي، ډیوه، غوړي، وسلې، غلې- دانې، او نور وو. سوداګریزې لارې ډاډمنې وې، کاروانسرا یو نه اباد وو او د ولایتونو والیان مرکزي دولت ته د سوداګریزو مالونو په ساتنه کې مسئول وو. سوداګر له بهرنیو هېوادونو څخه د اطلاعاتو، معلوماتو، جغرافیوي آفاقي خبرونو، مدني مسایلو په هکله له بهرنیو هېوادو څخه ښه منابع او سرچینې وې، نو څکه د معلوماتو دغه وسیلې په افغانستان کې پوره د درناوي وړ وې او خبرې یې د منلو وړ وې. صرافان هم په ښارونو کې پولي چارې پرمخ وړې چې له پولي تبادلاتو څخه یې ښې زیاتې پیسې ګټلې. سره له دې چې له سوداګریزو مالونو څخه د هېواد دننه بیلا بیلو ولایتونو کې څو څو ځلې مالیه اخیستل کیده، خو بیا هم په دې توګه د ښارونو او کلیو ترمنځ سوداګریزه راکړه ورکړه د پرمختګ په حال کې وه.

# دریم
# د افغانستان ښارونه

د دولسمې پېړۍ په نیمایي کې د افغانستان لویو ښارونو هر یوه له سل زرو څخه تر دوه سوه زره تنو پورې نفوس درلود. په همدې پېړۍ کې د اروپا یو شمېر ښارونو ایله د مزدور کارو صنعتکارو او سوداګرو په واسطه لږ لږ وده وکړه او نفوس یې یو څه زیات شوی و. د هغوی لویو ښارونو له ۲۰ زرو څخه زیات او کوچنیو ښارونو یې ۵۰۰۰ تنه وګړي درلودل. یواځې د بیزانس ښار د خپل پرمختګ، تمدن، اقتصاد او د سوداګرۍ له پلوه مستثنا و. د افغانستان په مرکزي ښارونو کې د صنعت او سوداګرۍ وده د صنعت او شتمنۍ د ډېریدو لامل وه او مرمکزي دولت یې پیاوړې کړی و او له اسلام څخه مخکې دوره کې یې دغه ښارونه د علم او هنر او آبادۍ له پلوه ډېر نامتو کړي وو او د اسلام په دوره کې د علم او هنر منځته راتګ نور هم ښه کړل. د بلخ، مرو نیشاپور، هرات او بامیان ښارونه په ټوله منځنۍ آسیا کې ممتاز او اوچت وو. دغه ښارونه هر یو یې د صنعت سوداګرۍ، فرهنګ او پوخ له مخې لوی لوی مرکزونه وو. ددغو ښارونو بیلا بیلو برخو کې لویې لویې دولتي ودانۍ او د ښار د لویانو غټې غټې کورونه وو چې یو شمېر یې له پخو خښتو او ګچو څخه جوړ شوي وو، خو یو شمېر نور له خامو خښتو جوړ وو. د وړو خلکو کورونه د ختو وو او بازارونو تنګې کوڅې درلودې. د بازارونو هرې رستې او هرې کوڅې خپل خپل نومونه درلودل. ددغو تنګو بازارونو په منځ کې جوماتونه وو چې لوړ لوړ څلي یې لرل، همدارنګه حمامونه، کاروانسرایونه، شرابخانې، مدرسې، هجرې یې هم درلودې (په دې مهال اروپا حمامونه نه پېژندل) دغه بازارونه د کلتور او هڅووب لوی لوی مرکزونه او د سوداګرۍ معاملو ځایونه وو. د ځانګړو ځانګړو صنعتګران او پیشه وران یې لرل چې د بازارونو پاکۍ او صفایي په خپله د خلکو په لاس تر سره کیده چې محتسب به څارله. د بیو څارنه هم کیده شحنه د ښارونو، بازار او خلکو ساتونکی و. د هغه مهال د افغانستان لوی ښارونه بلخ، غزنې، نیشاپور، مرو، هرات، زرنج او نورو، لکه چې د تاریخ لیکونکو په لیکنو کې څرګند دی، د چنګیز د یرغل پر مهال په هر یوه ښار کې له ۴۰۰ څخه زیات صنعتکاران او په هر ښار کې له ۲۰۰ څخه زیات شتمن خلك او سوداګران اوسیدل چې دغه رقم د هغه مهال د صنعت او سوداګرۍ او اقتصادي ترقۍ ښوونه کوي. دغه ښارونه ددفاع له پلوه ښه استحکامات لرل. لویو، پنډو دیوالونو، لوړو برجونو او د څو دروازو په واسطه ساتل کیدل. هر ښار ارګ، شهرستان او ربض درلود. دشپې له خوا به د ښار دروازې تړل کیدې. وتل او ننوتل به بند وو. کلیوالي ښهونه، ودانۍ او کرنیزې ځمکې له ښارونو څخه بهر او ښارته به نژدې ځایونو کې و. ممتازه او بډایه طبقه د ښه ژوند لرونکې وه اولکه د درباریانو په شان اوسیدل، هر یوه مرئییان وینځې، ساقیان او ندیمان لرل چې د عیش او عشرت او ښنلو او ګډا مجلسونه یې جوړول

منځنی طبقه هم لږ څه شتمنه وه، نو نظافت او تفریح ته یې میل و او دوی هم یو شمیر اداب په پام کې ساتل. دوی د دوو طبقو یعنی مرئیبانو او وینځو او بډایانو ترمنځ منځګړي ژوند درلود. مزدورانو او بزګرانو په کلیو کې کار کاوه چې ایله یې (مه مره مه رغیږه) مړ ژواندی حال درلود. سوداګر، صرافان، طبیبان، ملایان، شاعران او منشیان او درناوي وړ وو او صنعتګرو او پیشه ورو صنفونه د اتحادیو لرونکی وو چې یو څه هوسا ژوند یې و. د هېواد صنعتي ترقي ټولې د همدوی د هلو ځلو پایله وه. په ښارونو کې د بیلا بیلو مسلمانو مذهبونو لرونکی خلك اوسیدل او هر یوه خپل امام او لارښود درلودل چې یو بل سره به په شخړه کې وو. آن دا چې د جوماتونو مقصوري د حنفي ښي او شافعي ښي جلا جلا وې، د بېلګې په توګه د چنګیز د یرغل پر مهال هغه د دغو دوو ډلو له دننني نفاق څخه ګټه اوچته کړه، دغو دوو مذهبونو د چنګیز د راتګ پر مهال اړ دوړ کړی و او د مرو په ښار کې یې یو د بل د جوماتونو مقصوري و سوځولی. ساداتو هم د ایمه مذهبو په وړاندې په ښارونو کې خپل خپل لار ښوونکی درلودل چې (نقیب) بلل کیدل. دوی ټول د هغه مهال د حکومتونو په نزد د یوه اقتدار او دریغ د تر لاسه کولو په خاطر یو بل سره شخړې او سیالی کولې تر څو یو د بل په پرتله اوچت عزت له دولت څخه واخلي د دوی په نظر د دولت د کارونو کمیت او کیفیت فعل او نیاو د ملت په وړاندې دوهمه درجه ارزښت درلود خو په خپله د دوی په وړاندې یې اوله درجه درلوده یعنی د دوی په قضاوت سره د دولت معیار د دوی امتیاز لرل و او دولتونه هم همدوی سره همدا وړ چلند درلود یعنی لومړی مقام یې د ملت په پرتله همدوی ته ور کاوه. د بېلګې په توګه کله چې د افغانستان په شمال لویدځو ولایتونو کې سلجوق پوونده قبیلو یرغل وکړ، تر ټولو مخکې په نیشاپور کې د اهل حدیث رهبر امام موفق هغوی ته داوطلبانه ور تسلیم شو او طغرل یې ملامتي لاندې راوست. حال دا چې طغرل خپله هم مسلمان وا او د چنګیز د یرغل پر مهال هم همدغه ډول مذهبي رهبران د ارادت او اطاعت په تقدیم کولو کې مخکې شول. په بخارا کې دوی د چنګیز حضور ته ورغلل د خپلو پخوانیو مستمري معاشونو غوښتنه یې ور څخه وکړه، په بلخ کې هم د سوداګرو او بډای خلك چې طبعاً د خپلو شتمنیو د خوندي پاتې کیدو هیله یې لرله، له جګړې مخکې د چنګیز مخې ته ورغلل او ښاریان یې تسلیم کیدو ته وبلل همدارنګه په سرخس کې یو نامتو قاضي (شمس الدین) د خوارزمشاهي دولت پر ضد له چنګیزیانو سره مرسته وکړه او سرخس یې بې له جګړې دښمن ته تسلیم کړ. همدارنګه شیخ الاسلام حارثي شمس الدین هم قصد وکړ چې د مروې ښار پرته له جګړې څخه چنګیز ته تسلیم شي، حال دا چې بزګرانو او پیشه ورانو، کور په کور او ښار په ښار د چنګیز د یرغل په وړاندې جګړه وکړه.

د هېواد لوی کلي د بازارونو، جوماتونو، ښونو لرونکي وو او سوداګریزه، راکړه ورکړه روانه وه، لوي کلي ښه آباد وو. لومړنۍ زده کړې په جوماتونو او د لویانو په کورونو کې تر سره کیدې. واړه کلي ختین کورونه، کوچنۍ او ناولې لارې درلودې او له ټولو فرهنګي او مدني وسایلو څخه یې خبره او محروم د سیمه ییزو خانانو د بزګرانو د کورونو او د کرنیزو ځمکو په منځ کې په کلکو کلاوو کې ژوند کاوه، دوی خپل شاوخوا کې ډیر لږ شمیر صنعتګر درلودل. لکه اوبدونکي، ګنډونکی، خرمن ګنډونکي او، ترکاڼان جوماتونه، مدرسې، پلونه، کاروانسرایونه او خاګانې زیاتره د فیوډالانو، سوداګرو او د دولت د لویو مامورینو له خوا د همدوی په نوموټو جوړیدل او زیاتره به دوی په دې برخه کې یو بل سره سیالي کوله.

# خلورم
## اداره

د دولت اداره متمرکزه وه. دغې ادارې د بېلا بېلو ملکي، نظامي او قضايي دايرو په واسطه کار کاو. د ټولو په سر کې دربارو پاچا د حکومت رئيس. د شريعت ستر امام او د پوځ عمومي قوماندان و. وروسته تر پاچا وزير د صدراعظم او د پاچا د نائيب په توګه د هېواد د چارو واك په لاس کې درلود. د ولايتونو لوی حاکمان هر يوه يې د خپل ماموريت په ساحه کې د واك خاوند او مطلق العنان واکمنان وو. فيوډالانو سره له دې چې له مرکز څخه تښتېدل، د ملت او دولت په تقابل سره، ملت باندې د چارو ملامتي اچوله. دا خکه چې په پای کې دوی هم له دولت سره ګډې ګټې درلودې. سره له دې چې قوي دولت، قوي فيوډال له منځه وړ. خو خلك يې په سر کړده نه پرېښودل. بلکې يو بل نوی باوري او خپل لاسپوڅي فيوډال يې ورباندې ګوماره. روحانيونو چې وړ يا ډوډۍ خوړله. د دولت په سيوري کې ويده وو، خانونه يې د دولت په ګډو ګټو کې شريك بلل او مذهبي قدرت يې د خلکو په ذهنونو کې د دولت په نفع په کار اچاو. منځنۍ ښاري طبقه او سوداګر ټول د عمومي امنيت او د دولت د قدرت غوښتونکي وو.

دربار ډير د لېرې لګښتونو لرونکی او پرتمين و او په دې کې ګڼ شمير مرئييان، نديمان، شاعران، افسران، طبيبان، ستوري پيژندونکي، فال کتونکي، مامورين او ګڼ شمير حواشي او درباري زوايد وو، دا خکه چې هغه مهال په اسلامي هېوادو کې هر پاچا د درباري لويوالي، عظمت او تجمل او د پوهانو او علماوو په روزنه کې يو بل سره سيالي کوله. چې دا په اسلامي هېوادو کې په خپله د علم او هنر د پرمختګ لپاره يو لامل و. خو له بلې خوا د دغه پرتم، تجمل او لويوالی د لګښت لپاره ډير درانه ماليات په ملت باندې وو او د دولت مامورينو به مرکزي دولت ته سوغاتونه، هدايا او رشتونه ورکول چې دې ټولو ورخ په ورخ د بزګرانو ملاماتوله. په هر حال؛ دربار د فيوډال او روحانيونو ملاتړ کوونکی او د هنرمندانو او علماوو هڅوونکی او په لښکر باندې ډډه لګوونکی و او خلك يې د لاسپوڅي رمې په شان ساتل چې د حاکمه طبقې د زړه سوي، ترحم او شفقت وړ وو.

د دربار لويانو به لويې ګلداره او قيمتي چپنې، خولی او ورباندې بر سيره غټې حاشيه دارې لونګي اغوستې. دوی به موزې په پښو کولې او د سرو زرو ملا وستنی به يې تر ملا و او مهرونه به يې د ګوتي په فيروزه کې وو. د سورلی آس به يې د سرو زرو يراق لرونکی او ځينې وخت به يې په ملاو ستنيو او د آسونو په يراق کې دانې ټومبلې وې. د غزنوي دورې د شهزاده ګانو چپنې په مرغلرو پسولل شوې وې او خوليو باندې يې څلور غټې ښکې لګول شوی وې چې په سرو زرو او مرصع شويو ګانو

پسولل شوي وې او ملاو ستنې يې هم ټول په ګاڼو ډك وو. د دوی د آسونو يراق به د سرو زرو او په ودونو کې به يې د آسونو نالونه هم د سرو زرو وو. د شهزاده ګانو موزې به سرې وې. نامتو خوارې يې غوښه، کبان، کباب، اش، ښوروا، نواله (ماليده)، پيره کی، حلوا، آچار، نقل، ميوه، شراب، شربتونه، شيدې، کوچ بيروی، پوځې، هريسه (هغه خوراك چې د غنمو اوغوښې له کوفتې او غوړيو او مسالې څخه جوړ وو) او داسې نور شيان وو. په لويو لويو مجلسونو کې به بيلا بيل دسترخانونه، بيلا بيل ځايونو کې، د غونډه والو د بيلا بيلو درجو لپاره هواريدل. د دسترخان منځ کې به د حلوا ځلې و، د وريږ غوښې به وې، بيا به شراب وويشل شول او سندر غاړو به سندرې پيل کړې او ټوکيانو به ټوکې پيل کړې. د دولت مهم دفترونه مالي اداره، رسايل، جاسوسي، نظامي او قضايي ادارات وو. مالي اداره په خپله د صدراعظم له خوا څارل کيده، جاسوسي اداره د پاچا تر نظر لاندې وه، ښحو او نرو جاسوسانو د هېواد دننه څارګري کوله. د هغوی مخابرات به په ځانګړو شفرونو سره (معما ډوله) په امسا کې، د آس د زين په لمخې کې، د نعلونو دننه او نورو ځايونو کې اېښودل کيده. د بريد ديوان خپل ډاګونه په چاپار سورلۍ سره تر سره کول چې د دولت د ډيرې پاملرنې وړ وو، د غزنويانو په دوره کې دوی ته (د يو سواران) نوم ورکړل شوی و. دوی کولای شول په درې شپو- ورځو کې له غزني څخه نيشاپور ته او په اوو شپو ورځو کې له نيشاپور څخه د خوارزم پلازمېنې ته ورسيږي. دوی د سفر په ترڅ کې پرته له خوراك او ډير لږ دمې کولو څخه ځنډ نه کاو او د اړتيا پر مهال به يې کولای شول له هر ځای څخه به يې چې زړه و تازه دم آس اخيستلای شو. د يو سوارانو به په مهمو خدمتونو کې له خپل هر ځل سفر څخه څو زره درم په بخششي ډول له دولت څخه اخيستل. عادي مخابرات بيا لږ څه ورو و او نظامي مخابرات به د جګړې له ډګر څخه د هغو سورليو په واسطه تر سره کيدل چې تر پلازمينې پورې يا ترر اس الحرکات پورې به منزل په منزل د انتظار په حالت کې و او حاضر باش به ولاړ و. دوی به بې ځنډه ليکونه له يو منزل څخه بل ته ليږل، بيرته به خپل ځای ته راستنيدل.

قضايي دايرو به قضايا د اسلامي حقوقو سره سم په ډېر ګړندی ډول په يوه پړاو کې پرته له استيناف څخه فيصله کول. وزيران او لويې ستې هر يو په ليکونو کې د غټو القابو او عنوانونو لرونکي وو لکه: الشيخ العميد، الشيخ الجليل او نور.

لښکر له دوو برخو جوړ و، يو يې سپاره بل يې پلی. دا يو شمير يې دايمي و يو شمير يې اجير و او مرئيیان ول. د جګړې پر مهال به حشري پوځ او د هېواد د ډيرو لويو لويو خانانو اړوند قطعات هم ورسره يو ځای کيدل. سرتيرو سره غشي، ليندی، نيزه، منجنيق وسلې وې آن دا چې اور اچوونکی بمونه يې هم کارول چې له نفتو څخه جوړ وو. د جګړې په ډګر کې پيا ده يا پلي سرتيري مخکې وو ورپسې به سپور پوځ روان و، که به ښځې پکې وې هغوی به د پوځ په منځ کې وې. د لښکر تجهيز کول د عارض په لاس کې و. د پوځ اعاشه يا خوراك د لارې په ترڅ کې د سيورسات په بڼه له خلکو څخه توليدل او ځينې وخت به له پوځ سره يو ځای آذوقه هم روانه وه. د لښکر لوی لوی افسران د اقطاع لرونکي وو چې د قانون له مخې يې ميراثي بڼه نه درلوده، خو عملاً به يې ميراثي بڼه درلوده.

د مجرمینو سزاګانې بېلا بېلې وې لکه، بندي توب، په لرګیو وهل، په دار خړول او خینې وخت د پیلانو تر پښو لاندې اچول، خو مثله او دې ته ورته سزاګانې په افغانستان کې نه وې. هغه چا باندې به چې پاچا ډېر په غوسه شو هغه به په یو اخیتوب بندیخانې کې اچول کید چې فرش، رڼا او د ژمي تودوخه به یې نه لرله خینې وخت به یې په لاسو او پښو کې زنځیرونه ور اچول. له دې امله چې د دولت روش ډېر ویروونکی و او له ټولنې څخه یې بې قید او شرط اطاعت غوښتې نو د جرمونو د مخنیوی لپاره به خینې وخت کوچنی ګناه ته ډېره غټه سزا ورکول کیده چې د دغې سزا په تطبیق کولو سره به یې نور خلک ویرول. د بېلګې په توګه امیر سبکتګین غزنوي په دې ګناه باندې چې د خرمایي بست کې یو پیلوان په قصد سره له بلې ونې څخه خوراك کړی و، هغه یې په هماغه ونه کې له ستونې ځوړند کړ او ټولو خلکو ته یې وښود تر څو ټول خبر شي غزنوي سلطان مسعود هم په کرمان کې خپل یو تنخواه خوړونکی په دې ګناه چې له رعیت څخه یې یو پسه بې د بیې له ورکولو څخه اخیستی و. د ښار په دروازه باندې ځوړند کړ او د هغه آس او یراق یې هغه سړي ته ورکړل چې ظلم ور باندې شوی و. د دولت لوی سیاسي قهر لاندې راغلي وګړي به هم خپله کورنۍ، خپلوان او خدمتګاران له ټولې شتمنۍ سره له لاسه ورکول او دوی به ټول تکول کیدل. د وخت دولتونو په دغه ډول تشکیلاتو او ادارې سره له سوداګریزو اجناسو او امتعو، د بڼونو او ځمکو له حاصلاتو، د څارویو له حاصلاتو. له صنعتکارانو او پیشه ورانو او له غیر مسلمانانو څخه مالیات، عوارض او سرانه اخیستل. هغوی به دغه ټوله شتمني د دربار په لګښتونو، د ملکي او نظامي مامورینو په معاشاتو، په ودانیو او ترمیماتو، د روحانیونو په مستمري، د مدرسینو په معاش، د زندانونو په لګښت د اوبو لګولو په پرمختیا او د لارو په لګښتونو او نورو برخو کې مصرف کوله.

# پنځم
# مذهب

په افغانستان کې اسلامي دیانت خپرېدل او پراختیا، پخواني ژردشتي، بودایي، برهمني، مترایي او نور ادیان له منځه یوړل، یعنی ډېر لږ شمېر مذهبي اقلیتونه لکه یهودي، هندوان، زردشتي او مسیحیان پاتې شول چې هغه هم په ښارونو کې نه وو. د اسلام دین د پنځو پېړیو په ترڅ کې د افغانستان عمومي دین و ګرځید او اسلامي تعلیم د دري ژبې له پرمختګ سره یو ځای شو. دري ژبې هم د پخوانیو نورو ژبو ځای ونیو او دغو دواړو د افغانستان د ملي یووالي په ټینګیدو کې ډېره اغېزه وکړه، خو د اسلام دین هم ډېر ژر په نورو بیلا بیلو مذهبونو وویشل شو. په پیل کې هماغه د اوومې پېړۍ په پیل کې د حضرت محمد (ص) له رحلت څخه وروسته د پیغمبر د ځای ناستي او د خلافت د حق او د مسلمانانو ترمنځ د امانت پر سر اختلاف پیدا شو چې وروسته بیا د شیعه مذهب، سني مذهب او خوارجو د را پیدا کیدو لامل شو. دغو اختلافاتو په ټولو اسلامي هېوادونو کې او له هغې ډلې په افغانستان کې اغیزه کړه او دري واړه طریقې یعنې سني، شیعه او خوارج را منځته شول. یواځې دا نه، بلکې په مسلمانانو کې د فروعو په برخو کې یعني د مذهبي احکامو فرعي مسایلو کې بحثونه او چت شول او په فقهي روش کې نوي اختلافات را پیدا شول چې دا ټول د څو څو مذهبونو د پیدا کیدو لامل شو او د افغانستان یو شمیر دغه مذهبونه ومنل شول. همدارنګه د جبر او اختیار په برخه کې د مسلمانانو ترمنځ لانجې پیدا شوې او خلکو یو شمېر نویو نظریاتو ته لیوالتیا وښوده، دا څکه چې د اموي دولت تبعیض او استبداد چې د عربي نژاد د لوړ ګڼلو پر بنسټ ولاړ و، ددې لامل شو چې خلک ملي غبرګون وښیي. دغه چلند د افغانستان خلک لا مخکې د ملي عکس العمل ښودلو ته چمتو کړی وو. د بېلګې په توګه د عربو په وړاندې په ټولنیز برخو کې بیلا بیل فعالیتونه د قارن، سوري، نیزک، بازان، حبان، سندباد، استاد سیس، آذرویه، ابرم، بومسلم، برمکي، آل سهل، حمزه، طاهر او یعقوب تر لارښوونې لاندې تر سره شول. همدا رنګه د مذهب په برخه کې هم د یوې دفاعیې په توګه د اسلامي عقیدې په ضد ځینې فکرونه پیدا شول لکه حکیم مقنع او د سپید جامه ګانو فرقه (چې دوی اخلاقي طریقه د مذهبي قیودو په پرتله ښه او غوره ګڼله)، د افغانستان جهمیه (چې د جهم بن صفوان خراساني له خوا جوړ، شوی وه) او داسې نور خو ددې سرچپه، د افغانستان سیاسي او نظامي غورځنګونو د اسلام دین د خواکمنو څپو په وړاندې مقاومت و نه کړ کوم چې ددغو عقایدو ملاتړ یې کاو. معتزله طریقې هم د (رد جهمیه) په نوم یو کتاب ولیکه، ددغو اسلامي ضد طریقو بر خلاف یو شمېر نورې طریقې چې په خپله د اسلامي عقیدو دننه پیدا شوې، په افغانستان کې یې د خپلې ودې لپاره لاره

هواره کړه.

د مشهورو اسلامي مذهبونو په لړ کې یو اخې مالکي مذهب چې د قرآن او سنتو پر بنسټ ولاړو او په اتمه پیړۍ کې پراخ شو او تر ډیره پورې یې و پخوانیو وختونو ته پام ساتلی و. په افغانستان کې ډیرو نه منل شو خو حنفي مذهب په همدغه پیړۍ کې په افغانستان کې د رای او قیاس پر بنسټ ولاړ و منل شو. دا ځکه چې حنفي یو مناسب او موافق اجتهاد وړاندې کاو او شرعي حکم یې په یوه کار کې چې شرعي حکم یې نا څرګند و. د یو بل کار له مخې چې هلته شرعي حکم څرګند و تطبیق کاو او د هغه معلوم کار د معلوم حکم پر بنسټ یې حکم کاو. شافعي مذهب چې له مالکي او حنفي د واړو مذهبو څخه جوړ و او د دواړو ترمنځ و. هم د افغانستن په ځینو برخو کې و منل شو چې ځینې وخت په اشعري روش سره د افغانستان اسلامي سیمو کې تدریس کید. اشعري مذهب په نهمه پیړۍ کې د ابوالحسن علي بن اسمعیل له خوا رامنځته شوی و، چې د ابوموسی اشعری له اعقابو څخه و او په ۸۷۸ کې زیږیدلی او په ۹۳۵ کې وفات شوی و. دغه سړی د معتزله طریقې لاروي و، خو وروسته له معتزله څخه جلا شو او اشعری طریقه یې د اعتزال د کلك دښمن په توګه را منځته کړه. اشعریانو کلام قدیم باله. په آخرت کې یې رویت مانه، ګنهګار مومن یې مومن باله او حسن او قبح (ښه او بد) یې سمعي بلل. هغوی غوښتل چې د مجبره (دا د جبر په عقیدې هغه طریقه وه چې د بشر ټول اختیار. لرونکی اعمال یې ردول، ټول یعنې، خیرو شر، کفر او ایمان، تقوا او فجور او هر څه یې ازلي بلل) او قدریه (دغې فرقې د جبریه مقابل عقیده لرله) ترمنځ لاره غوره کړې وه. نو ځکه دوی ویل چې بنده د فعل کاسب او خدای (ج) د فعل فاعل دی. یعنی خدای د فعل خالق او بنده د فعل فاعل دی. نوله دې امله چې خدای مالك دی، هر څه چې کوي له ظلم څخه پاك دی، خدای په علم سره عالم، په قوت سره قادرا و په کلام متکلم دی او دا ټول قدیم صفتونه دي، اشعري مذهب هم په افغانستان کې وارد شوی و او د هېواد شمال لویدیځ کې یې پلویان و موندل. په تیره بیا په هرات او نیشاپور کې، حنبلی مذهب چې زیاتره په حدیثو ولاړ و، په نهمه پیړۍ کې په شمالي افغانستان کې پراختیا و موندله.

همدارنګه (کرامي) مذهب (وضع کوونکی یې محمد بن کرام بن عراق بن خرابه لکني به ابو عبد الله زرنجي سیستاني و چې په ۹۶۵ کال کې د شام په یوه سیمه کې زیږیدلی و) د افغانستان په شمال لویدیځو او مرکزي برخو کې و منل شو. ځینو به دغه مذهب زیاتره مادي باله او ویل کیدل چې د هغه وضع کوونکی د خلقت په عالم یو شمیر اعتراضات لري چې د (السر) په کتاب کې یې څرګند کړي دي، هلته یې د مار او لړم د خلقت بېلګه راوړې. خو یو شمیر نور بیا وایي چې کرامي مذهب د کلامیه مذهب له جملې څخه و، چې د معتزله په ضد و. یعنی کرامیان مثبتان صفات وو. په هر حال؛ منهاج السراج جوزجاني په طبقات ناصري کې وايي چې دغه مذهب په غورو نیشاپور او غرجستان کې نامتو امامان او مدرسې درلودې. د غور سلاطین هم په دغه مذهب روان و، معتزله طریقه یو بل مذهب و چې د قرمطي او اسمعیلی طریقې په نومونو هم یادیدل او د افغانستان په یو شمېر سیمو په تیره بیا په شمال لویدیزو او یو څه هم په ختیځو سیمو کې رواج وو. د خوارجو طریقه هم د هرات او سیستان سیمو کې و

Scanned by CamScanner

منل شوه، خو د عقایدو او افکارو په یوه اوږده جګړه کې، چې یو بل یې د تکفیر په وسله ټکول او کل کله به عملي اخ و ډب هم وشو، بالاخره فقهاوو او اشعریانو (چې د معتزله او متکلمینو په ضد وو، د هغه مهال د دولتونو په ملاتړ په نورو مذهبونو (کرامي، قرمطي، خوارجو او نورو) باندې بریالیتوب وموند. دوی پرته له څلورو مذاهبو (مالکي، حنفي، شافعي او حنبلي) څخه نور ټول د سني مذهب هغه مذهب وچې د سند ولایت کې ډیر مخکې خپور و د دغه مذهب فلسفه دا وه چې علم ته پرته د حس کولو له اصل څخه بل اصل نشته) په ردیف کې را وستل او هغه یې د ټکولو او ورکولو وړ بلل. همدارنګه خرمیه، جهمیه، مانویه، راوندیه و نور یې هم کفر او زندیق ګڼل حال دا چې د دوی خپل منځ کې هم د نفاق اور بل و مادي زندیقان یې هغه بلل چې په آسماني ادیانو منکر دي، آسماني کتابونه او انبیاء نه مني او پرته له محسوسه شیانو په بل شي عقیده نه لري. ایراني مقفع او مصري ابو العلا او ابن ابي العوجا او نور هم په همدې ډله کې شمیرل کیدل ابو العلا نړۍ په دوو برخو ویشلې وه: بې دینه عاقل او بې عقل دیندار، خو عقل تر پیشوایانو غوره بولي او هم مذهب د ښمنو لپاره د واکمن پاتې کیدو یوه وسیله بولي (نهمه پیړۍ). په اصل کې زندیك د مزدك د پلویانو نوم و چې د زند کتاب باندې یې عقیده درلوده او زند د اویستا د کتاب تفسیر و چې مزدك راوړی و. مزدك خپل مذهب د زرتشت او ماني مذهبونو د اصلاح او ریفورم په بنسټ درولی و. عربو زندیك ته زندیق نوم ورکړ او د سیاست او مذهب په ژبه دې نوم نوره هم لکۍ وکړه او د دولت او روحانیونو ټولو مخالفانو ته ورکول شو، او مخالفین په همدې نوم له منځه وړل کیدل. ماني د اشکانیانو کورنۍ پورې اړه درلوده چې په ۲۱۲ میلادي کې زیږیدلی و. ماني مذهب جسم، زمان او مکان شر بلل او د نجات لاره یې دا بلله چې روح له جسم څخه خلاص شي چې په مطلق ترك کولو سره تر لاسه کیږي. ماني تبلیغات د عدالت کلیسا او د روښنفکرۍ نوم ګټلي و. له هسپانیا تر سور یې او له ایران څخه تر افغانستان او ماورالنهر پورې خپور و. د ماني مذهب اغیزه په ټوله آسیا، شمالي افریقا او جنوبي اروپا کې تر پیړیو پیړیو پورې تر سترګو کیده او هم په بیلا بیلو مذهبونو او ادبیاتو کې را څرګنده شوه. له دې پرته ماني داسې انځور ګرو، چې په ښکلو هنرونو کې یوه یواځنۍ بېلګه وه، په پای کې مني و زردشتي روحانیونو په تعصب د ساساني بهرام په لاس ووژل شو. مانوي روحانیون په خپل ژوند کې له مالکیت څخه محروم و، د ورځې یو ځل یې خوراك کاو او په کال کې یې یو ځل جامې اغوستې او اوږدې اوږدې روژې یې نیولې. له غوښې او مشروباتو یې ځان ساته او له واده یې هم ځان ساته مالکي او حنبلي پیروان زیاتره اهل قرآن او حدیث پاتې شول خو شافعي پیروان عرفان ته ورکاږه شول، حال دا چې حنفي پیروان د اعتزال خواته مایل وو. له دې ټولو سره سره د نورو مذهبونو په پرتله حنفي مذهب په افغانستان کې ډیر و منل شو آن دا چې یو وخت د افغانانو د مطلق اکثریت مذهب شو. په هر حال؛ په افغانستان کې په هغه مهال باندې د فلسفي د علم په پرتله مذهب غوره ګڼل کیده. دا څکه چې په افغانستان کې هم لکه د نورو اسلامي هیوادو په شان علم د دین او مذهب تابع وو، نو په دې توګه علومو په خپل پرمختګ کې خپلواکي نه درلوده، او علما د دین او علم له جوړیدو څخه نا چاره وو. کټ مټ همدا روش په هنر او ادب کې هم تطبیق شو، نو په دې توګه د

Scanned by CamScanner

شیانو او ښکارندو ښه والي او بدوالي د هنر لومړنی معیار نه شو کیدای، بلکې دغه ښه والي او بد والي د مذهبي احکامو په حلالو او حرامو او جایزو او نا جایزو پورې تړلی و. له دغو مقرراتو څخه به که هر چا سرغړونه وکړه متمرد بلل کید که په هغه فیلسوف و، که به عالم و، ادیب او که انځور ګر او نور، نو تکفیر کیده. به یواځې دربار کولای شول د هغه ځواك له امله چې درلودیې د فقها وو له احکامو څخه معاف و او که یې غوښتي وای کولای یې شول چې د علم، فلسفې او هنر ملاتړ وکړي. په هر حال؛ مذهب په خپل وار د خلکو په کرکتر، پوهې او د ژوند په طرز کې لوی ارزښت او اغیز درلود او مذهبي علما وو په ټولنیز ژوند او اخلاقو ډیره اغیزه درلوده.

Scanned by CamScanner

# شپږم
# فرهنګ

افغانستان د اسلام تر راتګ د مخه خپل ځانګړی کلتور درلود چې د يونان، هند او ايران له کلتوره او فرهنګونو څخه هم اغيزمن و زردشتي، بودايي، برهمني، مانوي او ميترايي، هر يوه د هېواد په کلتور کې خپله خپله اغيزه لرله. د اسلام له راتګ وروسته او د اسلامي ثقافت تر غوړېدو وروسته د افغانستان فرهنګ يوه بله بڼه غوره کړه او په لويديځ او ختيځ کې لکه د نورو اسلامي هېوادونو په شان د ټول اسلامي فرهنګ يوه برخه شو. اصلاً اسلامي فرهنګ د کوم هېواد خالص فرهنګ نه، بلکې د ختيځ او لويديځ له بيلا بيلو فرهنګونو څخه اخيستل شوی عمومي فرهنګ و. عربو له اسلام څخه مخکې د انسان د ژوند په هکله يو ځانګړي نظر درلود، کله به چې دوی د يو شي له درک کولو څخه عاجز پاتې شول، هغه به يې ماورا الطبيعة ته حواله کړ او ددې ترڅنګ دوی په سحر، جادو او کوډو هم عقيده درلوده. حال دا چې د ايران هېواد دوه ګوني ديانت او مانوي او هم د هريت مذهب درلود. هند چې د ماور الطبيعي منطق او روش خاوند و، د ادراک (يو اخنی حقيقت) په تفکر کې او د (شيانو د کلي اصل) اصل په سوچ کې ډوب و، خو د بهرنيو حقايقو په پېژندنه او د هغو په هکله په تفکر کې يې پاملرنه نه وه کړې. دوی به محسوسات غولوونکي او زوال منونکي بلل او (وجود) يې شربالة چې لوېه موخه او د مقصود غايت له دغه شر څخه خلاصون و. دا يونان و چې د تحقق او ادراک او د عقل او طبيعت په کار او زيرو زبر کې بوخت و. مسيحي کليسا که يعقوبي وه، که ملکاني او که نسطوري وه، ټولو ځانګړې نظريات لرل، د بېلګې په توګه لومړني ويل چې لاهوت او ناسوت (يو طبيعت) ترتيب کړی چې هغه مسيح دی. دا بل به ويل چې مسيح د دوو طبيعتونو يعنی الهی او بشري طبيعتونو ترمنځ دی دريم بيا دا هڅه کوله چې د (ارادې او فعل) په وجود کې انساني ځانګړتياوې (د هغه توپير له امله چې له لاهوتي عناصرو سره يې درلود) د مسيح په هکله ثابتې کړي. دوی په يوناني پوهه کې هڅه وکړه او هم يې د افغانستان په شمال لويديځ کې يو څه اغيزه وکړه. د بيلا بيلو ملتونو د غوټولو کلتوري هڅو د اسلامي فرهنګ او پوهې په برخه کې اغيزه درلوده.

د دغې دورې ديني علوم د متمدنو ملتونو له علومو څخه د ژباړې له لارې بډای شول او سرياني، حراني، افغاني، ايراني، هندي او نورو ژباړونکو د رياضياتو، نجومو، طب، طبيعت، منطق، نحو اني فلسفي، تاريخ او قصص، انشاء او ترسل او نورو برخو کې اسلامي تمدن ته په عربي ژبه مسايل ورکړل چې زياتره يې د سقراط اپلاتون، ارسطو، بطليموس، جالينوس، البقراط، هيرو فيلوس، فرلس، اقليدس، فيثاغورث، سوفرنوس کوس، فرفوريويس او ارشيميدس او نورو آثارو څخه په عربي ژباړل

Scanned by CamScanner

شوي وو. د دغو یوناني علمي زېرمو ژباړه ژباړه د طبیعیاتو ریاضیاتو او فلسفې په برخه کې وه. دا ځکه چې عربو د یونان له هنر، شعر او تاریخ څخه نه و تر لاسه کړي. همدارنګه د لرغوني هند له ریاضي پوهانو لکه آریابارتا، براهما ګوپتا او راها مهرا څخه ژباړې وشوې. له هندي څخه عربي ته نامتو ژباړونکی ابوریحان و او له پهلوي څخه عربي ته نامتو ژباړونکي د برمکي بلخي او سهیل سرخسي او ابن المقفع او د نوبخت ایراني کورنۍ وې. له دې پرته ګڼ شمېر مسلمانو او عیسوي ژباړونکو له نورو بېلا بېلو ژبو څخه عربي ته ژباړې وکړې لکه د بن موسي، بن شاکر منجم، آل بختیشوع، حنین عیسوي، او کرخي کورنۍ او نور. همدارنګه نیو افلاطوني فلسفه چې د لویدیځ او ختیځ فلسفي لرونکې وه د سوریې د مسیحیانو او د حران (بین النهرین) د صابئیانو له خوا او د جند یشاپور د مدرسې له خوا مسلمانانو ته ور ورسیده. نو دا ټولې یوناني، رومي، اسکندراني، سریاني، خراساني، ایراني، نبطي او هندي او نورې علمي زېرمې د اسلامي هېوادونو د علومو د تدوین او بنسټ لامل و ګرځیدې چې په نهمه او لسمه میلادي پېړۍ کې یې تر لاسه کړې وې. په لسمه او یوولسمه میلادي پېړۍ کې خپل لوړ پړاو ته ورسیدې. د دغو دورو نامتو فیلسوفان او پوهان د خپلو جلا جلا روښونو سره سره د ماورالطبیعي او ایدیالستي فکر لرونکي وو، ډېر لږ شمېر و یې مادي فکر کاوه.

په دغو پېړیو کې عربي ژبو هېوادونو، افغانستان، ماورالنهر، ایران، مصر، المغرب، او اندلس هر یو یې د اسلامي تمدن زانګوګانې وې. عباسي لومړنیو خلیفه ګانو، فاطمي خلفا وو، د افغانستان او ماورالنهر پاچاهانو، د ایران، خوارزم او مغرب او اندلس امراو ټولو اسلامي فرهنګ هڅاو، دوی مدارس جوړول. اوقاف یې چمتو کول او دین، او نژاد علماوو ته یې درناوي کاو او هغوی ته یې ګرانبیه سوغاتونه ورکول همدا لامل و چې په دغو هېوادو کې د اوچت نوم پوهان او نامتو علما را څرګند او ډېر آثار یې ولیکل د پوهې په دغو لویو او مهمو مرکزونو کې د یهودو، نصرانیانو، مسلمانانو، زرتشتیانو، صابیانو او هندوانو علما ټول په یو ردیف کې یوه بل ته درناوی سره په امن کې اوسیدل. طبیبان او منجمین به د دربار په لومړي صف کې وو او د خلفاوو، وزیرانو، پاچاهانو او امیرانو مجلسونه به د فلسفي بحثونو مناظرو او علمي او مذهبي خبرو اترو ځایونه وو، چې کوم تعصبات پکې نه و، مقلدینو ته کوم ځای نه و، په دې توګه بغداد، نیشاپور، دمشق، موصل، حلب، فسطاط، ري، بلخ، بخارا، قاهره، قرطبه او نورو ښارونو ټولو د روم، آتن، بیزانتیوم، اسکندریې، ګند شاپور، انطاکیه حران، رها، نصیبین او قنسرین ځای ونیو، آن دا چې ځینو علومو کې تر هغو مخکې شول.

همدا لامل و کله چې د ایتالیا او هسپانیا په جنوب کې به کوم مسیحي عالم له اسلامي تمدن او فرهنګ سره مخامخ شو، سترګې به یې و بریښیدې او د اسلامي فرهنګ ژباړې ته به یې پام شو. د ریاضي، ستورو پېژندني، طب، طبیعي فلسفي، علم النفس، منطق او مابعد الطبعیه کتابونه به یې د ارسطو له تالیفاتو سره یو ځای ژباړل، دوی فارابي، الکندی، ابن سینا، ابن ماجه او ابن الرشهد و پېژندل، دری په پایله کې مسیحیانو په یوه بشپړ ډول سره په منطق او طبیعت کې د ارسطو په مذهب کې پوهه پیدا کړه، نو په دې توګه اسلامي عقیدې د مسیحیت د عقیدې په څرنګوالي اغیزه وکړه، تر څو چې دوی

ایتالیایي دانته، بلخي ابن سینا او اندلسي ابن الرشد یې د یونان د لویو لویو حکیمانو په ردیف کې د خپل دوزخ په رواق کې را وستل. سره له دې چې هسپانیا په لسمه پیړۍ کې د اسلامي فرهنګ په زړه کولو سره لکه د اسلامي هېوادونو په شان په خپل مادي مدنیت کې لوړې پوړۍ ته ورسیده، خو لا هم د هغوی د ژوند عقلي وده او فرهنګي تنوع د اسلامي ختیځ حد ته نشوه رسیدلای. هلته زرتشتي، اعتزالي، صوفي او زاهد بد بین نه لرل، له اسلامي مذهب څخه یواځې مالکي هلته رواج درلود. په یو ولسمه پیړۍ کې چې کله په قرطبه کې بربریان له منځه ولاړل او ملوك الطوایفي رواج شوه او یو شمیر ښارونو کې شعر او هنر رواج وموند. نو دا مهال حکومت په شعر کې داخل شو. وروسته بیا طبیعي فلسفه او د اخوان الصفا کتابونه د ابو سلیمان سیستاني د پیروانو له منطق سره یو ځای په اندلس کې رواج و موند او همدا مهال د ابن سینا د قانون او د فارابي د آثارو او مؤلفاتو اغیزه څرګنده شوه. له دې وروسته بیا فرهنګي زوال پیل شو، چې په دې ترڅ کې فلاسفه د تعصب تر ګوزارونو لاندې راغلل، اهل حدیثو هم په تشدد کې ډېر زیاتوالی وکړ، خو ددې سرچپه، په مراکش کې چې پخوا به هره عقلي نظریه د دین په چارو کې له قهر سره مخامخ کیده، سیاستمدارانو هم ددې اجازه نه ورکوله چې هره عقلي نظریه او پوهه د عوامو په سطح رواج شي او یا عامه عقیده د معرفت تر سطحې را اوچته شي، نو په دولسمه پیړۍ کې اسلامي فرهنګ پراختیا و مونده او په کلام کې نوی نوی خبرې راغلی، اشعری او غزالي مذهبونه هم را څرګند شول او د فلسفې مینه وال زیات شول او په همدغه مراکش کې دا مهال د (موحدینو) دولت د فلسفې او عقلي علومو هرکلی وکړ او له نورو اسلامي هېوادو څخه په دې برخه کې مخکې شو. د افغانستان خلکو د نورو مسلمانو هېوادونو لکه مصر، مغرب زمین (د افریقا شمال، د ایتالیا جنوب سیسل او هسپانیا) منځنی ختیځ (ماورالنهر، ایران، د عربو ټاپو وزمې او کوچنی آسیا) په شان د نقلي علومو په تدوین کې او د عقلي علومو او پوهې، تمدن او فرهنګ په برخه کې اوچت ګامونه واخیستل. د بېلګې په توګه د اسلام د دین له منلو وروسته د هېواد په بیلا بیلو سیمو کې په لسګونو مدرسې او ښوونځې جوړ شول چې غټې غټې موقوفات ور سره وو. آن په کوچنیو سیمو لکه ختلان کې ګڼ شمیر یې مدرسې چې شمیر له شلو زیات وو، جوړې او ټولو ثابت او قاف درلودل. په دغو مدرسو کې زرګونو زده کوونکو زده کړه کوله. ددغو مدرسو فارغان ګڼ شمیر امامان، علماء او مؤلفین وو، چې د ټولې اسلامي نړۍ د فقها وو، علماوو او د تفسیر او حدیث د علومو په استادانو کې یې لومړی ځای درلود، لکه امام اعظم ابو حنیفه چې په کوفه کې زیږیدلې و، بن ثابت چې په انبار کې زیږیدلی و، بن زوطي چې په کابل کې زیږیدلی و او بیا په ۷۶۶ کې په بغداد کې وفات شو، ابو عبدالرحمن عبد الله چې په ابن المبارك مروزی مشهورو او په ۷۹۲ کې وفات شوی (نوموړی د حدیث د لومړنیو کتابونو مولف و لکه کتاب الزهد والرقایق)، امام احمد بن هلال المروزي چې په ۸۵۵ کې ومړ (دی د اسلام نامتو محدث او فهي و چې څو مولفات لري)، ابوداود سیستاني چې په ۸۸۸ کې وفات شوی چې سنن معروف لرونکی او په صحاح سته کې یې څلورم مقام درلود، الحافظ ابي عبد الله محمد بن نصر مروزي چې په ۹۰۲ وفات شو او د المسند حدیث لیکوال او په دغه علم کې یې د اعلم علما

مقام درلود او وروسته تر صحابه وو په احادیثو کې لوی او نامتو را ټولوونکی (اجمع) او لوی ضبط کوونکی (اضبط احادیث) و.

همدارنګه په حدیثو کې د صحاح اصحابانو په ډله کې درې یې د افغانستان وو لکه ابو الحسن مسلم نیشاپوري، ابو عبدالرحمن احمد نسایي او ابو داود سیستاني، خو په فلسفه او عقلي علومو کې: سره له دې چې روښانه مسلمانانو د یونان فیلسوفان لکه فیثاغورث، اپلاتون او نوي اپلاتونیان لا ښخوا پیژندل او د هغو په نظریاتو پوهیدل او ځینې وخت یې څو طریقې (لکه یوناني او دیني مبآدي او نور چې د ختیځ له نصراني فلاسفه وو او نورو څخه یې تر لاسه کړې وو) یې یو بل سره ګډې کړې وی نو ځکه ورته (فیلسوف کسیرا) ویل کیدل چې په یوناني حکمت په تیره منطق، طبیعیات، الهیات، خلقیات په تیره بیا د ارستو په آثارو باندې پوهیدل. اسلامي فلسفي یواځې د یونان فلسفې ته درناوی درلود. د بېلګې په توګه د اسلام پیغمبر د یهودو او مسیحیانو کتابونو (تورات او انجیل) ته درناوی کاو. اسلامي فیلسوفانو د (عقل) د نظریې په لرلو سره په خپل وخت کې نامتو او وتلي فیلسوفان وو. حال دا چې په منځنیو پیړیو کې مسیحي دانشمندان د کلیاتو یا طبیعي بحثونو په ترڅ کې یواځې د (جدل) اړخ ته متوجه و، خو مسلمانانو د (عقل) په برخو کې بحثونه کول او عملي پراختیایي راوستې وه.

له دې ټولو سره سره اسلامي فلسفه په منځنیو پیړیو کې د لرغوني فلسفې او د مسیحیت د فلسفې ترمنځ منځ یوه مهمه فلسفه وه. البته دغې فلسفې د یواځنې یوې سرچینې منلو ته اړتیا درلوده تر څو اسلامي احکامو سره جوړه راشي، نو په اپلاتوني جامه کې یې د ارستو یې فلسفې اغیزه و منله، دا ځکه چې دغه مذهب خپلو الهي منطقي نظریاتو کې، هر موجود یوه بل پرتمین او پتمن موجود ته را جع کاو، خو طبیعي فلسفې زیاتره د طبیعت بیلا بیلو او یو بل سره په تضاد کې پیښو ته پاملرنه کوله، نه یواځې علت ته. په هر حال؛ د اسلام د ډیرو سترو فلاسفه وو او علماوو سره یو ځای لکه ابو یوسف یعقوبي بن اسحق الکندي، ابوبکر محمد بن ذکریا بن یحیی الرازي، ابونصر محمد بن محمد فارابي، ابو علي ابن مسکریه، ابن الرشد، ابن خلدون، ابن الطفیل او ابن باجه. افغانستان نامتو فلاسفه او علماؤ د اسلام نړۍ ته ور وپیژندل لکه: موسی جابر بن حیان خراساني، ابو معشر بلخي، ابن قتیبه مروزي، احمد بن الطیب سرخسي، ابوزید احمد بن سهل بلخي، ابوالحسن شهید بلخي، ابو سلیمان سجستاني، ابو الخیر بن خمار، ابوریحان بیروني، ابن سینا، ناصر خسرو بلخي او نور. کندی (۸۷۱ م) هغه فیلسوف و، چې د نوې اپلاتوني نظریې لرونکی و چې د فیثاغورث مفکورې نوی مسایل یې هم ورسره یو ځای کړې وو. کندی (مثل اعلی) هم سقراط ګڼي. کندی ویل: بالقوه نړۍ نه تمامیدونکی ده، نه بالفعله او حرکت پای نه لري. هغه د خپل مهال د ټولو عقلي علومو عالم و چې ۲۷۰ آثار یې لیکلي و او د (خزانة الکندیه) په نوم یې یو نامتو کتابتون درلود. د هغه پوهه په ریاضیاتو کې تر یوولسمې پیړۍ پورې رسیدله.

ابوبکر محمد بن زکریا رازي چې د (جالینوس العرب) لقب ورکړل شوی و، په ۸۲۴ کال کې په ری کې زیږیدلی و او په ۹۲۵ کې وفات شو، نوموړی فیلسوف، طبیب، د کیمیا او طبیعي علومو متبحر عالم و،

په فلسفه کې د نامتو فیلسوف بلخي ابو زید احمد بن سهل شاګرد و چې طبیعي فلسفي ته ډیر متمایل و. رازي پنځه قدیم باندې عقیده درلوده: خالق، کلي نفس، لومړنی هیولا، مکان یا خلا او مطلق زمان یا دهر (وخت). هغه د ثنویت او تناسخ په برخه کې له هندي او زردشتي عقایدو څخه اغیزمن و. هغه له ارسطو او د هغه له پلویانو سره او د خپل وخت له متکلمینو سره په تضاد کې و او ادیان او مذهبونه یې طرد کړي وو. په کیمیا، فلسفه او طب کې یې آثار لیکلي او د ارسطو او افلاتون په آثارو یې شرحې لیکلي او هم د فیثاغورث د فلسفې په هکله یې لیکنی کړي دي. د رازي کتابونه له ۱۳۰ څخه هم زیات ښودل شوي دي چې ډیر نامتو کتابونه یې الحاوي، منصوري او په طب کې د الفصول کتاب دی. رازي د لومړی ځل لپاره د ګوګړو جوهر له شنه زاج څخه او الکول یې د قندي موادو او نشایستې له تقطیر څخه تر لاسه کړل. هغه تجربه تر علم څخه هم غوره بلله، نو ځکه یې د علمي څیړنو لپاره یو شمیر وسایل، لکه: قرع او انبیق جوړ کړی وو.

فارابي چې په (معلم ثاني) مشهور شوی و. په ۸۷۳ کې د سیحون ترغاړې زیږیدلی او په ۹۵۰ کې په سوریه کې مړ شوی و. نوموی د اسلام ستر فیلسوف و له ابن سینا څخه مخکې. هغه د ارسطو آثار شرح کړی وو او د خپل عصر په علومو ښه خبر و. هغه په ما بعد الطبیعة منطقي روش کې پوهه لرله یعنی د ما بعد الطبیعة د منطق لاروی و. ده د شیانو ادراك د شیانو له اصولو څخه غوښت. ددې ډلې پلویان ټول همداسې وو. د دوی په نزد د خدای (ج) لومړنی صفت دا و چې هغه واجب الوجود ذات دی خو طبیعي فلاسفه وو شیان مطالعه او بررسي کول. ددوی په نظر د خدای (ج) لومړنی صفت دا و چې هغه حکیم صانع باله. فارابي په اسلامي فلسفه کې ارسطو ته لوړ مقام ورکړ، همداسې حنین بن اسحق او د هغه شاګردانو جالینوس په اسلامي طب کې د نړۍ تر ټولو لوی طبیب ګڼلی و. همدارنګه فارابي د ارسطو او اپلاتون د نظرونو په پخلا کولو کې ډیرې هڅې وکړې. هغه په اسلامي علومو کې د ارسطو، اپلاتون او نویو اپلاتونیانو د نظرونو اغیزه ومنله او د فلسفې بنسټونه یې اسلام ته را نژدې کړل. هغه په اسلامي فلسفه کې د منطقي روش او په علومو کې یې اسکولا ستیك دورې مقدمات ځای پر ځای کړل. د هغه اسلامي نیو اپلاتوني روش چې مخکې کندی را پیل کړی و او بیا وروسته ابن سینا هغه بشپړ کړ، له اپلاتون او ارسطو څخه اغیزمن و چې د اسلام له دیني اصولو سره ګډ کړل شوی و. د فارابي نظر په ځینو مواردو کې له کندی او ابن سینا سره توپیر درلود. همدارنګه هغه د خپل مهال د متکلمینو فلاسفه وو له یو شمیر عقایدو سره مخالف و. په فلسفه کې د فارابي روش د ابن سینا د څرګند روش په پرتله پیچلي او ګونګ و.

ابو علي ابن مسکویه (۹۲۲ مړ) هغه فیلسوف وهم مؤرخ. هغه په اخلاقو کې یو فلسفې مذهبې پرېښېدې، چې د اپلاتون، ارسطو، جالینوس او اسلامي شریعت د احکامو یو ګډ ترکیب لري، خو د ارسطو نظریات پکې غلبه لري. خو هغه و نشو کولای چې دغه ټول یوناني نظریات او اسلامي سره متوافق کړي. هغه په طب، کیمیا، فلسفه او اخلاقو کې یو شمیر ثار لري مسکویه په علمي بحثونو کې د البیروني په لاره روان و لکه هماغسې چې ابن خلدون په تاریخ لیکنه کې د البیروني په قدم روان و.

ابن الرشید چې په ۱۱۲۶ کې د اندلس په قرطبه کې زیږیدلی و او په ۱۱۹۸ کې په مراکش کې مړ شو. د خپل عصر ډیر نامتو حکیم و چې د فقها وو له خوا په الحاد متهم شو. هغه د ارسطو مذهب شرح کړ او انساني عالم یې د ارسطو له علم څخه برخمن کړ. ابن الرشید یو بل زړور منطقي متفکرو چې په خپله نظري فلسفه کلك ولاړ و او د نادانو فرمانروایانو او متکلمانو په ضد و او د فرهنګ د دښمنانو او د خپل وخت د جامد فقها وو په وړاندې ولاړ و. سره له دې چې د اړتیا له مخې او د وخت او شرایطو له غوښتنې سره سم یې خان د دین او شرع تابع باله. خو په یو شمیر فلاسفه وو لکه فارابي، ابن سینا و ابن باجه باندې یې نیوکې کړې. له پخوانیو سره دده توبیر دا و چې هغه په ډاډه توګه فکر کاو چې «نړۍ له ازله بدلیدونکی ده او وحدت سراسر ازلی دي، چې نیستي ته په هغه کې هیڅ ځای نشته او پرته له دغو شیانو چې شته نور هیڅ هم نه کیږي...» دا یې هم ویل چې هغه څه چې حادث کیږي له فعل څخه د قوت حالت ته راوتل دي او له فعل څخه د قوي حالت ته رجوع ده. هغه د متکلم دلیل د صانع د وجود اثبات باله، نا چیزه علمي انتقاد یې نه مانه او له صانع څخه انکار کول یې د فساد سبب بلل. ابن الرشد په ټولنه کې ګډون او خدمت د نارینه او ښځینه دواړو دنده بولي. ده د خپل عصر بد مرغي دا بلله چې نارینه ښځینه د خپل خاطر د خوشحال لپاره په پام کې نیسي، نه د عقلي او مادي ارزښت او د هغې د ساتنې لپاره. ابن الرشد عقیده درلوده چې انساني سعادت تر هغو پورې نه شي ډاډمن کیدای ترڅو چې په ټولنه کې سعادت ډاډمن نه شي. د دین په هکله یې ویل: د شارع غرض په دین کې د زده کړې او پوهې ترلاسه کول نه دی، بلکې د شارع موخه د خلکو د حالت اصلاح کول دي او د هغوی اړ ایستل دي ترڅو نیك کارونه وکړي او اطاعت ته غاړه کیږدي. په اسلامي فلاسفه وو کې تر ټولو زیات ابن رشد د اخلاقو په هکله خبرې کړي دي، حال دا چې نورو اخلاق د دي تابع بلل او همداسې پسې تیر شوي دي او نور بحثونه یې کړي دي. لکه یهودیت او مسیحیت هم چې اخلاقي قوانین یواځې پیغمبر پورې تړلی وو او اپلاتون او ارسطو فلسفه او اخلاق یو بل سره برابرول.

د ابن الرشد د بیلا بیلو تالیفاتو یوه برخه په لاتیني ژبه و ژباړل شول او په کلونو کلونو د اروپا په ښوونځیو کې درسي کتابونو کې شمیرل کیدل. «تهافت التهافت» د همدې فیلسوف اثارو وروسته امام غزالي خراساني د «تهافت الحکما» د کتاب له امله محکوم کړ، خو ابن الرشد ویل چې په خپله غزالي په زړه کې له فلسفې سره ګډه عقیده لري خو په ښکاره مخالفت کوي. په واقعیت کې د امام غزالي مهال (۱۰۵۷ - ۱۱۱۱) په منځنی آسیا کې د فقها وو د تعصب دوره وه چې سلاطینو هم کلك استبداد چلاوه، نو ځکه امام غزالي اړ و چې خپل آثار هم متعصبینو او هم عامه خلکو ته داسې ولیکي چې د هغه اصل فکر څه نا څه تلویح کړای شي. المستظهر عباسي متعصب خلیفه په ۱۰۹۳ کې غزالي اړ کړ چې د اسمعیلیه طریقې په ضد یو څه ولیکي. غزالي هم د هغو په نظریاتو کې تر څیړنې وروسته درې رسالې ولیکلې. همدارنګه نوموړي تهافت الحکما د فلاسفه وو د نظریاتو په تخطه کې ولیکه، دا ځکه چې غزالي د عقل په واسطه ددې نړۍ له پیژندلو مخ اړوي. غزالي وایي چې: دین یو باطني ذوق دی، حال دا چې هغه فلاسفه چې عقل ته لیوال دي د دین چارې د شارع دوهم او تصور پایله ګڼي او حتا د

Scanned by CamScanner

هغه هوس یې بولي چې حقایق یې د فلسفې د حقایقو په پرتله لږ دي. همدا لامل و چې غزالي په مخالفت لاس پورې کړ. هغه یواځې په احکامو یا عقایدو اکتفا و نه کړه، بلکې دین یې له هغه څه لا زیات وباله په هر حال، د غزالي هڅې د معرفت په اړه د انساني خرد په تاریخ کې، د هغه د مهال د حکیمانو له مذهبونو څخه څه کم ارزښت نه لري. غزالي د خراسان نامتو کلامي او وروستی فیلسوف وچې د چنګیز خان تر یرغل مخکې یې ژوند کاو. هغه په ریاضي باندې تیری نه کوي او په منطق کې تیروتنه ډېره لږ شمیري، همدارنګه نوموړی په ماورالطبیعة کې زیاته برخه فاسده ګڼي او طبیعیات د حق او باطل یوه ګډوله بولي. غزالي د العالم پخوانی نظریه ردوي او معاد نفس له بدن سره یو ځای مني، که دا بدن د لومړني بدن له مادې څخه وي او یا که له کمې بلې مادې څخه وي او یا هم که نوی خلق شوی وي همدارنګه نوموړی ذات باري په ټولو کلیاتو او جزئیاتو باندې عالم بولي. غزالي چې په خپله نامتو عملي صوفي دي. هڅه یې کړې ده چې اسلامي عرفان زیاتره ددین لورې ته نژدې کړي او د هغه سرکښه اړخونه را ټیټ او کم کړي. غزالي یو ډېر لوی مولف و چې په اخلاقو، تصوف، دین، الهیاتو، فقه او فلسفه کې ۳۸ کتابونه لري چې پرته له خود نمایي، مباهاتو او تصنع څخه بې له پیچلتیا څخه لیکل شوي دي. ابن خلدون چې په تونس کې زیږېدلی و او په ۱۴۰۲ کې په قاهره کې وفات شوی و، هغه لومړنی عالم و چې د انساني ټولنو د تطور د تاریخ فلسفه او د هغه لاملونه یې تشریح کړي دي همدا د جنس، هوا او د هغو ډولونو په برخه کې دقت وکړ او د انسان او ټولنې د تن او خرد (پوهې) په جوړېدو کې یې د هغو اغیزې وښودلې. هغه د شریعت د تطور (بشپړتیا)، مدنیت او سمسورتیا په برخه کې د ثابتو قوانینو جریان ومانه او فرهنګي او ټولنیز ژوند یې د خوراك موندل او د تنازع له اسبابو سره وخیږه او د فرمانروا او فرمانبرانو د ډلو رامنځته کېدل یې د تاریخ برخه و بلله. ابن خلدون دا توضیح کړه چې مدنیت په څه ډول سره له یوه ساده حال څخه ور ورو لوړو پوړونو ته رسېږي او څرنګه بیرته زوال مومي او په څه ډول سره هنر او پوهه په ژوند کې په متمدن ډول غوړېږي. ابن خلدون وایي چې وګړي په بیلا بیلو ډولونو بدلونونه کوي او په هر حال کې: بیابان ګردي، قبیلوي ژوند او بیا ښاري ژوند او دولتونه را منځته کېږي. لومړنی اړتیا د خوراك موندل دي، د ملتونو ترمنځ توپیرونه د هغوی د اقتصادي حالتونو د توپیر له امله دي، د بېلګې په توګه لومړني انسان، شپانه او بزګران. د بیوزلي لامل د یوه رئیس تر توغ لاندې د خلکو را ټولیدل او جنګ جګړې کول او لوټل دي. هغه وایي: قبیله ښار جوړوي او د کار ویش ژوند نور هم پراخه او پرمخ بیایي، خو دغه پراخوالی او پرمختګ په ځانته ښار جوړوي او د کار ویش ژوند نور هم پراخه او پرمخ بیایي، خو دغه پراخوالی او پرمختګ په شهوتونو کې د ډوبیدو لامل کېږي. کار په پیل کې معیشت ښه کوي، خو د تمدن له پرمختګ وروسته، د نورو استخدام او استعمار (ځبېښاك) شروع کېږي، د شتمنو لټي، سستي او آساني ژوند ستونزو سره مخامخ کوي او اړتیا وې ډېرې، مالیات درانه او بیوزلي پراخېږي، پخوانی جنګ جګړې کمېږي او دین او عصبیت فاسده بڼه غوره کوي. یو مهال دولت له منځه تګ سره مخامخ کېږي. همدا مهال یو بل نوی خواك را څرګندېږي او نوی دولت جوړوي. ابن خلدون دا هم وایي چې د لویو ټولنو او دولتونو مثال لکه د یوه کور په شان دی چې تاریخ یې ۳-۲ نسلونو پورې پای ته رسېږي، یعنی لومړی نسل په ښنو

درېږي، دوهم نسل يې حفاظت او درېيم نسل (يا شيرم) يې ورانوي. پایله دا چې مخکې له ابن خلدون څخه هیڅا تاریخ د داسې علم په توګه نه د بیان کړی چې پر فلسفه ولاړوي ابن باجه (په ۱۱۳۸ کې په فارس کې مړ) د مغرب د دولسمې پېړۍ نامتو حکیم و، چې د هغه ځای فارابي شمیرل کید. خو د هغه دوره د مغرب د علمي انحطاط او زوال دوره او د تعصب او تحجر مهال و، نو ځکه ابن باجه د منفوریت او یواځیتوب په حال کې له نړۍ سترګې پټې کړې

ابن الطفیل چې په اندلس کې زیږیدلی او په ۱۱۸۵ کې په مراکش کې وفات شوی، یو نامتو عالم و چې غوښتل یې یوناني پوهه لکه د ابن سینا په شان د ختیځ له حکمت سره یو ځای کړي. ابو موسی جابر بن حیان خراساني د کیمیا د علم وضع کوونکي او ستر عالم و چې د څو سوه آثارو لرونکی و. په دې ډله کې یې یو د الخاص او بل د الخواص په نومونو کتابونه لیکلی و. نوموړی په ۷۷۲ کې وفات شوی دی.

ابو مشعر محمد بن عمر بلخي (۸۸۵ مړ) د خپل مهال د لوړ قدر لرونکی عالم و هغه ډیر کتابونه په تیره د نجومو په برخه کې ولیکل

ابن قتیبه مروزی (ابو محمد عبد الله بن مسلم په ۸۲۸ کې زیږیدلی) یو بل عالم و چې په نهمه پیړۍ کې د اسلامي علومو او فنونو استازی و. په لغت (ژبه)، نحو، شعر، ادب، حدیث، فقه او تاریخ کې یې معلومات لرل او د خپل مهال لوی اسلامي مولف ګڼل کید. هغه په ۸۸۹ کې ومړ

احمد بن الطیب سرخسي چې په ۸۹۴ یا ۸۸۹ کې وژل شوی، په فلسفه او منطق کې د څو څو آثارو لرونکی ابو زید احمد بن سهیل بلخي چې په (جاحظ خراساني) یې شهرت درلود (۹۳۳ مړ) د یعقوب الکندی شاګرد و. هغه لکه د خپل استاد په شان څو څو تالیفات لرل چې د کلام د علم متخصص و او په فلسفه کې یې هم لیکنې کړې وي چې د الحاد تور ور باندې ولګید. نوموړی په فلسفه کې د محمد بن زکریا رازي استاد و. په هندوستان او ایران کې ګرځیدلی سړی و.

ابو الحسن شهید بن حسین بلخي یو بل فیلسوف او شاعر و چې په فلسفه کې یې د الهی علم، او سکون او حرکت په هکله لیکنې کړي. هغه له ایراني فیلسوف رازي سره معارض و (۹۳۲ مړ) ابو سلیمان محمد بن طاهر بن بهرام سجستاني، فیلسوف او نامتو منطق پوه و. په لسمه پیړۍ کې یې ژوند کړی چې نامتو اسلامي فلاسفه و لکه ابو زید بلخي، ابو علي مسکویه، یحیی بن عدي، فارابي او ابن سینا په ډله کې شمیرل کیږي. هغه د بیلا بیلو فنونو لکه د ارسطو د کتابونو حکمت او تفسیر په برخه کې آثار لیکلي، خو هغه د اسلام د یو شمېر فلاسفه وو برخلاف دا امکان بالکل نفي کړ چې دین به فلسفي سره مطابقت ومومي. نوموړي ددغه دواړو یو ځای کول محال او رسوا کوونکی ګڼل. ده په عربي ژبه شعرونه هم لیکلي. کور یې د روڼاندو او د فکري مکتبونو د پوهانو او دانشمندانو د راټولیدو ځای و، د ژوند په پای کې ړونو او بیا ومړ. محمد بن موسی خوارزمي د لسمې پیړۍ نامتو ریاضي پوه اود (جبر او مقابلې) د کتاب لومړنی لیکوال و چې د خپل مهال د پوهانو په لومړي کتار کې ولاړ و، ابو الخیر بن خمار یو بل د قدر وړ فیلسوف، طبیب او ژباړونکی و چې د ابن سینا هم مهالی و. نوموړی د غزني په دربار کې اوسید، ابو ریحان محمد بن احمد خوارزمي (۹۷۳ کې زیږیدلی) عالم، مورخ او نړی

Scanned by CamScanner

ګرخیدونکی و. هغه د ریاضي، نجومو، ملل، نحل، جغرافیې او په هندي مانوي او یهودي، نصراني، یوناني او اسلامي فلسفه کې پوهه لرله. سره له دې چې ابو ریحان په ریاضي و فلك (نجوم) کې او د ربړاونو په پېژندنه کې بوخت و، څو د ډېرو شیانو توضیح یې له فلسفي څخه زده کړې وو. هغه د یونان د پوهې په اوچتوالی اعتراف کړی و او دده په نظر د ژوند اړتیا وې مونږ عملي فلسفې ته اړ باسي ابو ریحان په فلسفه کې لکه د الکندي او فارابي او نورو په شان اسلامي فلسفې لاروي نه و. هغه په ارسطو یو څه نیوکی هم کړې وې. د ابو ریحان بیروني د اثارو ارزښت به په ریاضیاتو او د ملتونو د اوضاع په تحقیق کې هیڅکله د هیڅا هیرې نه شي، هغه په هندوستان کې سیاحتونه وکړل. خو لکه د نورو اسلامي سیاحینو په شان یې یواځې په مشاهده. افسانه او اساطیرو قناعت و نه کړ بلکې په ادیانو، فلسفه او د خلکو په عقایدو کې یې بې تعصبه څیړنه وکړه. خو نورو سیاحینو لکه ابن بطوطه چې هند ته ولاړ، ابن جبیر اندلسي چې سوریې او عراق ته ولاړ او یا هم لکه مارکوپولو چې له لویدیځ څخه آن تر ختیځ پورې راغی، یواځې افسانه او اساطیر وکتل او بس.

د هغه ماللهند کتاب په اتیاوو بابونو کې یو شهکار دی. همدارنګه هغه په تاریخ، نجوم او ریاضي کې بیلا بیل تالیفات ولیکل چې شمیر یې له سلو اوړي. د هغه ډېر نامتو آثار پرته له ماللهند څخه (آثار الباقیه عن القرون الحالیه) او (قانون المسعودي في الهیته و النجوم) او (الجماهیر في معرفت الجواهر) او په دري ژبه کې (التفهیم لاوایل صناعت التنجیم) وو. بروني په سانسکرت، سریاني و عبراني ژبو باندې پوهید. دغه پوه د غزني په دربار کې ژوند کاو او له ابن سینا سره یې د لیکنو له لارې اړیکې ساتلې وې.

بلخي ابن سینا (۹۸۰ کې زیږیدلي او ۱۰۳۲ مړ) د خپل مهال یو جامع عالم و چې د اسلام نوښتګر فیلسوف او په طب، فلسفه، تفسیر، تصوف، اخلاقو، کمیا، لغت او طبیعیاتو کې د څو څو آثارو لرونکی چې په عربي او دري ژبو یې لیکلي وو. هغه د فلسفې ټول اجزا چې دایرة المعارفي بڼه یې درلوده (له معقولو علومو څخه) په څو بیلا بیلو کتابونو کې په څرګند او اضح ډول سره تر څیړنې لاندې ونیول. منطق، طبیعیات، ریاضیات او الهیات یې له یونان څخه اخیستل شوی وو او له اسلامي دیني اصولو سره نژدې کړل شوي وو، ټول یې په خپلو آثارو کې په روښانه ډول تحلیل کړل او د منطق، خلقیاتو، د آیاتو په فلسفي تفسیر او عرفاني موضوعاتو کې یې لیکنې کړې وې. همدارنګه د یونان په پخوانیو لیکوالو یې شرحې ولیکلې. د هغه نامتو آثار (کتاب الشفاء) په منطقه کې او (قانون) په طب کې دی. همدارنګه نوموړي کتابونه لکه (نجات)، (ارشادات) او د علایي دانشنامه له دولسمې پیړۍ څخه تر اوولسمې پیړۍ پورې څو څو ځله په لاتین او نورو ژبو باندې ژباړل شوي دي او د اروپایي پوهنتونونو او پوهانو د استفادې ور ګرځیدلي دي. ابن سینا د زړې فلسفې ځانګړې طرز پورې تړلی پاتې نه، بلکې هغه څه یې چې خوښ و په نوښت سره یې تر کار لاندې ونیول څه یې له ارستو، څه بې له اپلاتون، څه یې له فارابي او نورو خوښ کړل، خو په ځانګړې توګه یې له یوه څخه هم کټ مټ پیروي و نه کړه، نه یې د مشاء حکمت، نه نوي اپلاتونیان او نه یې له کلام کټ مټ څه را اخیستل بلکې د علم

کلام د یوې برخې په را اخیستو سره یې خپل عقاید هم ور سره یو ځای او د تصوف اصول یې ور سره گډ کړل او له دین سره په نژدیوالی یې په فلسفه کې یوه نوی لاره پرانیستله او په ټولو علمي بحثونو کې یې ځان د یو اسلامي ارسطو په توگه را څرگند کړ. ابن سینا (خلود روح) تائید کړ، خو تناسخ یې و نه مانه، په معاد باندې په عقیدې لرلو سره یې د اهل دین د تلقیاتو په شان و نه مانه، یعنی جسمي معادنه مني (خو صرف د شریعت له لارې یې مني) هغه عرفان نه یواځې په خپله مشایي فلسفه کې په اصولي توگه داخل نه کړا و نه یې هم له خپلو فلسفي بنسټونو څخه لرې کړ، بلکې د عقول، کیفیت، نفوس، عقل ته اتصال، د فعال عقل په کیفیت پوهیدو او د عرفاني بحثونو په تر سره کولو کې یې کار وکړ. د ابن سینا ځانگړې خپلواك روش هم د مشایي فلاسفه وو لکه ابن الرشد او هم د متکلمینو لکه امام غزالي نیوکې لاندې راغلی خو فقهاوو او متعصبینو لا هغه پخوا په کفر تورن کړی و. عباسي خلیفه المستنجید په ۱۱۵۰ کې امر وکړ چې په بغداد کې دې د ابن سینا ټول مولفات وسوځول شي. ابن سینا د ارسطو مشایي فلسفه په پټو سترگو و نه منله. ده په اروپا کې د دکارت د رامنځته کیدو څخه کلونه کلونه مخکې ارستو له فلسفې سره مبارزه وکړه. هغه د طبیعي پیښو بدلونونه، انقلابونه او تحولات د ټاکلو قوانینو تابع و بلل نه د ماوراي الطبیعة ځواك تابع، یعنی ابن سینا په خپل مهال کې هغه یواځنې متفکر و چې په یوه علمي لاره یې د پخوانیو له تعبد او تقلید څخه ډډه وکړه. د ابن سینا اغیزه تر ډیرې اوږدې مودې پورې او په طب کې د هغه د قانون نومي کتاب نوم په اروپا کې تر شپاړسمې پیړۍ پورې ډیر څرگندو، په افغانستان کې یې هم اغیزه تردې وروستیو کلونو پورې ډیره څرگنده وه، د هغه نظریاتو د منځنۍ پیړۍ مسیحي فلسفه کې تاثیر وکړ. دانته هغه ته د بقراط او جالینوس په منځ کې ځای ورکړ او سکالیجر په طب کې هغه له جالینوس سره برابر او په فلسفه کې یې تر هغه اوچت بولي، ابن سینا په دري ژبه شعر هم لیکل چې دلته به یې دوه رباعي راولو چې د متعصبینو د تکفیر هغه خبره په کې راوړې چې دده په هکله شوي:

کفر چو منی گزاف و آسان نبود
محکمتر از ایمان من ایمان نبود
درد هر چو من یکی و آنهم کافر
پس در همه دهر یک مسلمان نبود
با این دو سه نادان که چنان میدانند
از جهل که دانای جهان آنانند
خر باش که این جماعت از فرط خری
هر کو نه خر است کافرش میخوانند

ناصر خسرو بلخي چې د بدخشان په یمگان کې په ۱۰۸۸ مړ شوی، یو پوه حکیم او په فلسفه کې باخبر او د یوناني فیلسوفانو لکه اپلاتون، سقراط، ارستو او نورو له آثارو څخه خبر او په هندسه، فلکیات، شعر او ادب کې عالم شخص و. نوموړی د افغانستان د پنځلسمي پیړۍ نامتو پوه و. هغه یو

نړۍ ګرځېدونکی جهان دیده سیاح هم و. دده (سفرنامه) کتاب یو مهم تاریخي کتاب دی. همدارنګه ددده (زاد المسافرین) کتاب دده د فلسفي پوهې ښه استازیتوب کوي. نوموړي یو شیمر نور آثار هم لري لکه وجه دین، بستان القول، خوان اخوان، روشني نامه، سعادتنامه، دلیل المتحرین او نور. دده د شعرونو دیوان هم ډېر نوم لري. ناصر خسرو د مذهب له پلوه فاطمي و چې هغه مهال یوه پر مختللي طریقه وه هغه په دغه لاره کې د مبلغ او امام په توګه له ډېرو ستونزو سره مخامخ شوی و او د مرګ تر شیبې پورې فقهاوو او متعصبینو هغه ځوراو. د ناصر خسرو شعرونو کې د علم او حکمت هڅونه ښکاري او مذهبي او فلسفي روح لري. هغه د بزګر او پیشه ور ستاینه کړې له لوړ پوړو او خوشامندو او درباري پرېړو ځخه په ډېر عزت ځان ساتي او هغوی یې رټلي دي. د بېلګې په توګه په یو ځای کې یې ویلي و:

اګر شاعري را تو پیشه ګرفتي
یکي نیز بګرفت خنیا ګري را
صفت چند ګویي ز شمشاد و لاله
رخ چون مه و زلفك عنبري را
به علم و به ګوهر کنی مدحت آنرا
که مایه است مر جهل و بد ګوهری را

بنظم اندر آری دروغ و طمع را — دروغ است سرایه مر کافری را
من آنم که در پای خوکان نریزم — مر این قیمتي در لفظ دري را

بالاخره ناصر خسرو بخلي د بدخشان په ګوښه او پټ ځای کې له نړۍ سترګې پټې کړې.

## تصوف

تصوف اساساً ایدیالستی تفکر پورې تړلی. د اسلام له خپرېدو ځخه مخکې هم ګڼ شمیر هېوادونو خپل تصوف او عرفان درلود، چې دا د هغوی د اجتماعي نظام د شرایطو پایله وه. د بېلګې په توګه د مرئیتوب د دورې په یونان کې د اپلاتون د (مثالیات) عرفان را منځته شو. رواقیونو هم (جذبه) د خدای د رڼا د پېژندنې لپاره اړینه بلله. پلوطین (پلوطینوس) چې یوناني نژاده او په ۲۷۰ کې مړ شوی، په مصر کې اشراق را منځته کړ. او د اشراقو د فلسفې یوناني سکندریه مدرسه یې جوړه کړه چې د ختیځ، اپلاتوني او ارستویي فلسفې له ګډون ځخه جوړه وه او ددغه مکتب تصوف هم د عرفان په مشاهده کې و.

په هندوستان کې چې د ژورو طبقاتي تضادونو لرونکی هېوادو، د محکومو طبقاتو محکومیت له رنځونو ځخه د خلاصون په خاطر د یو نوی تفکر هڅوونکی او د نیکمرغی پیدا کوونکی و بلل شو او لوړې طبقه کې د ټیټې طبقې د اخلیدو خیال (د تناسخ عقیده) یې را منځته کړه. بودا چې د دوهمې طبقې فردو، د لوړې (برهمن) یا لومړۍ طبقې له ګټو سره په تضاد کې و، نو ځکه یې برهمن ته نذر ورکول او قرباني حرام و ګڼل. ده وویل چې لوړې طبقې ته پورته کېدل د قرباني له لارې نه، بلکې د ریاضت له

طریقه کیدای شي. په دې توګه بیوزله طبقه دده پیروان شول. په واقعیت کې هند د نورو هېوادونو په پرتله زیات د عرفاني او فلسفي تفکراتو د بیلا بیلو ډولونو زانګو وه. د بېلګې په توګه د «سمارتګان» فرقه په دې عقیده وه چې ټول عالم د قایم حاکم په حکم محکوم او د حقیقي قایم په تحقیقي وجود نه ده تړلې او هغه څه چې د خیر او شر، ثواب او عقاب له امله مخلوقاتو ته لاحق کېږي، د دوی د خپلو اعمالو او اقوالو پایله ده. د «چهار واك» طریقه بیا مادي وه چې پرته له محسوساتو یې نور څه نه پیژندل او د صانع په پیژندنه کې یې د بشر ادراك عاجز باله، نو ځکه یې د صانع وجود نفي کاو. د دوی په نظر ټول ادیان د جاه طلبو فصحا وو د تفکر ثمره او د عامو د غولولو وسیله ده. دوی معاد او د روح خلود مطرود او لذات او مشتبهات مرغوب بولي، خو د ځارویو خوړول ترحیم او دغه کار د خوروونکی رنځ عامل بولي. د «بود» د مذهب عقیده په اجسادو او اثارو کې د حق په حلول وه او د زنده جان ازار د هندوانو او برهمنانو په شریعت طرد. خو په اجسامو کې د نفسونو تناسخ باندې یې ایمان درلود.

د «سانګیان» د طریقي پلویانو چې کله له «حق» څخه خبرې کولې، موخه یې له «طبیعت» څخه دا وه چې اجسام او علوي اجرام یې په طبیعت کې موجود بلل او ویل چې مثلاً د اغزی څوکه څوك تیره کولای شي؟ پرته له طبیعت څخه بل څوك نه. دوی د زړه پاکوالی په دې پورې تړي چې خو د خواهي، شهوت، غضب او انانت و رټل شي، نو هله به نیکو کارانو ته دوستي، ناروغانو ته مهرباني، مظلومانو ته بخشش او د خلکو له هوسایي به خوښیي تر لاسه شي. د «جوك» طریقې کې خالق یواځنی ګوهر، بې ضده او د ټول عالم فاعل بلل کیده چې له ټولو عیبونو پاك او دردونو آرام او چاته اړ نه دی او دانا دی. نو توصیه کوي چې زړه باید د همغه په یاد مشغول وي د مخلوقاتو او حیواناتو له آزار، غلا، بنځې او مرغوباتو ډډه وشي رښتیا ویل او رښتیا کول او په خاوره ویده کیدل، ریاضت ګالل، تسبیح، رضا، خوښي طهارت او په قلب کې تفکر یې توصیه کوله. او دغه ټول یې د علیا مرتبې حاصلول بلل. د «ترك» ډلې د ټولو محسوساتو نفس، جسم، قلب، شهوت، غضب، جهل، مجازاتو، مکافاتو، خوند او درد او نورو په هکله خبرې کولې. دوی رښتیانی خوند په آزادي کې لټاو لکه له حسي لذتونو او محسوساتو څخه د جسم لرې کیدل، له شپږ ګونو حسونو «قلب یې شپږم حس باله» لرې کیدل او د یوویشتو دردونو رټل. همدارنګه آزادي مبداء ته په تقرب او ور سره په اتحاد کې لټوي، خو هغه اتحاد چې لکه اوبدل شوی تارونه د یووالی سره سره یو بل څخه جلا وي، یعنی له مبداء سره اتحاد د «وندانیانو» د مذهب له اعلی مفارقو څخه و چې د هندوستان د صوفیزم د محققینو نماینده و او وایي: د حقیقي موجود د وجود حقیقت، لکه د علم په شان دی. له دې څخه ځرګندیږي چې ډیر بسیط مذهب و. همدارنګه دا حقیقي موجود یې له هر ډول نیمګړتیاوو تش باله چې پر ټول شاوخوا، ټولو موجوداتو، اشیاوو او مکنوناتو باندې بصیر او با خبره دی، فنا او زوال یې په هستي کې نشته او د نفسونو او ارواحو خدای او د مصنوع عالم ضایع همدا دی. د دوی په فکر مصنوع عالم بې له صانع څخه له پټ حال څخه ځرګند حال ته نشي راتلای. وندانیانو عقیده لرله چې کله که عارف له جهاني قیدونو او مکاني علایقو خلاص شي او مطلق شي نو د اطلاق عالم ته رسیږي. د اطلاق درجې ته رسیدل په نهایي درجه کې همدا ده چې د

Scanned by CamScanner

سالك نفس عيناً د کلي نفس په نفس بدل شي همدارنګه په لسګونو نور مکاتب په هند کې موجود وو. د هند چاپیریال د بیلا بیلو نظریاتو څرګندیدو ته دومره چتوو چې آن اکبر جلال الدین د هندوستان مسلمان پاچا په خپله یو مذهب (الهیه) را منځته کړی و، حال دا چې دا پاچا یو بیسواده سړی و او یو شمیر رندو دانشمندانو لکه شیخ تاج الدین ولد شیخ زکریای جودهني، شیخ ابو الفضل مشهور، اردو شپو زرتشتي، غازي خان بدخشاني، شاه فتح الله شیرازی، خواجه عبد اللطیف ماورالنهري، سلطان خواجه او نورو نوموړی دغه فکر ته هڅا و. په پایله کې اکبر یې د زمان خلیفه او کامل انسان او د خلکو د سجدې وړ وباله. دغه مسجود همدې په خپله و. د الهیه مذهب پیروانو داسې کلمه ویله: لا اله الا الله اکبر خلیفه الله. او هم به یې ویل خلیفه الله ته اخلاص څلور درجې لري: د مال، ناموس، دین او ځان ترك کول، د خلیفه په لاره کې، دوی د اسلام د دین احکام چې زرو کلو کې چلیدلي وو، پای ته رسیدلي ګڼل او هجري نېټه یې په الهی نېټه واړوله چې پیل یې په تخت باندې د اکبر له کیناستو څخه شروع شوې وه (۹۶۳ هـ یا ۱۵۵۵ ع) الهیانو د تفسیر او فقهي لوستل پرېښودل او ځای یې د نجومو، حکمت او حساب تاریخ او شعر لوستلو ونیو، هغوی د ادیانو آزادي، د هر مذهب د عبادتځایونو جوړول په آزاد ډول د جبري ستي له منځه وړل (مړه میړه سره د ژوندی ښځې سوځول) او له قصاب سره په یوه کاسه کې له خوړلو کرکه آزاد اعلان کړل.[1] کله چې اسلامي تصوف هم چې کله هند ته ورسید، منع شو چې د هغه ۱۴ ډولونه مشهوردي قادریه، چشتیه، سهروردي، بهایي (ملتاني)، شاذلي او نور.

همدارنګه په پخواني افغانستان کې د بودایې او شیوایي د طریقو له خپوروالی پرته او د یوناني او مانوي له افکارو بر سیره له میلاد څخه مخکې په دریمه پیړۍ کې عرفاني مذهب او میترایي دوالیست (میترایي دوه ګانګي) را منځته شوې وه چې اوه پړاوونه یې لرل او په وروستی مرحله کې یې (مرشد) و. میترا ایزم د میني، دین او مال په لاره کې ځان قربانول و، همدارنګه له میلاد څخه وروسته او له اسلام څخه مخکې دورو کې په افغانستان کې د (سونا) د رب النوع پالونکي روحانیون موجود وو چې په خپلو ځانونو به یې ایرې مښودې او د سر له هډوکو جوړې تسپې به یې ګرځولې، دوی خپل خپل مزدکونه درلودل. وروسته بیا مسلمانانو په افغانستان کې د هند او بودا له فلسفي سره پیژندنه پیدا کړه چې اسلامي عرفان هم ور څخه اغیزمن شو، په داسې حال کې چې لا ډیر وروسته مسلمانانو و کولای شول چې له هندوستان سره په سیده توګه تماس ونیسي.

اسلامي تصوف هم په اتمه پیړۍ کې د سیاسي تبعیضاتو او استبداد او د کلکو قیدونو او جامدو مذهبي چوکاټونو له امله د شتمني بډایه طبقي به خوندونو کې ور ګډیدل او د اکثریت د محرومیت له کبله په پیل کې د ناسیده اعتراضاتو په بڼه او د ډاډ ورکوونکو حرکاتو په توګه، وروسته بیا له واقعیت څخه د تیښتې په بڼه او خیالونو ته د پنا وړلو په بڼه د منځنی طبقې له خوا را منځته شو او ژر یې د خلکو منځ کې دود و موند او د عرفان تر پردې لاندې، د بد بیني او پیچلو مخالفتونو په بڼه یې تولنه کې ځای ونیو. فقها وو پر تصوف د تکفیر په تور یرغل وکړ، خو وروسته بیا حاکمه قواوو له تصوف

---

[1] – د دبستان مذاهب کتاب، د موبد شاه زردشتي تالیف، د بمبئي طبع ۱۲۹۲ هجري

Scanned by CamScanner

څخه د خلکو د تخدیر او د عامه اذهانو په خوب ویده کیدو د یوې وسیلې په توګه کار واخیست، په تیره بیا کله چې په عربي ژبه د پخوانیو علومو ژباړې په مذهبي او فلسفي علومو کې د نظري څیړنو لامل شوې چې له هندې سره یو ځای تصوف را څرګند شو. اسلامي تصوف له ددین او فلسفي بهرو، خو په عین حال کې د دواړو تر اغیزې لاندې و. په تیره بیا د یوناني اشراقي فلسفې او فلوطین له نظریاتو یې زیات رنګ اخیستی و، چې د عرفان په کتنه کې ډوب و. اسلامي دغه تصوف له اسلامي هغه عرفاني ذوق سره یې چې درلود له زرو کالو څخه زیات په مسلمانانو کې اغیزمن پاتې شو، ددغې اغیزې پراخوالی دومره زیات و چې مشایي حکمت، طبیعیات، ریاضي او طب د هغه په وړاندې محدود وو. آن دا چې د اسلامي هیوادو په فلسفي تصوراتو او حکمت کې هم تصوف د بنسټ په توګه په پام کې نیول کید. ابن سینا تصوف داسې تعریفوي: حقیقي صوفیه طریقه هغه ده چې خپل خاوند د علي شانه معرفت ته ور رسوي، خو دا کومه عقلیه طریقه نه ده چې د قیاس له لارې منطقي وي، بلکې د هغه نور له طریقه ده چې د نفس په هینداره کې را ځلیږي. عرفاوو به ویل: د متکلمینو مناظرات نه یواځې دا چې د وجود عقده (ګروم) نه پرانیزي، بلکې هغه غوټه نوره هم کلکوي چې ددغې غوټې پرانیستل یواځې او یواځې د بصیرت له لارې امکان لري. دغه بصیرت یواځې د هغه چا په برخه دی چې د خالق او انسان ترمنځ د مادي پرده څیرې کولای شي.

په هر حال؛ اسلامي تصوف تر لسمې پیړۍ پورې له اپلاتوني ستالیاتو، فلوطیني انبثاقاتو او مانوي او بودایي طریقو څخه اغیزمن و، چې دغه اغیزې په دریو برخو کې غبرګون مومي: لومړی، (اتحادیه) د بېلګې په توګه د فعال عقل انطباع (فیض الهي څخه په سلبي نفس کې لکه بونصر فارابي فیلسوف او اخوان الصفا. دوهم، (اشراقیه) یعنی تجوهر الروح لکه سهروردي الحلبي او دواني او صدرالدین شیرازي، دریم، (وصولیه) لکه ابن سینا، ابن الطفیل او ابن سبعین. او په پای کې دغه ټول نظریات سره ګډ او په (وحدت الوجود) پای ته رسیدل. له دې امله چې نظري تصوف په وحدت او حلول سره د نوي فلوطیني او هندي فلسفي نښه وه، فقها وو او متعصبینو هغه د (دین خطر) وبلله، نو له همدې امله منصور حلاج او یحیٰی سهرودي یې ووژل. هغو صوفیانو چې لکه د استدلالي فلاسفه وو په شان په (پان اتیزم) یا د مصنوع او صانع په وحدت باندې عقیده درلوده، د فقها وو او متعصبینو د فشار له امله په ناچار ډول خانقاوو ته پنا یووړه او د اسرارو په ټولو یې پیل وکړ. په دې منځ کې یواځې د متکلمینو مکتب پاتې شو چې لکه د اسکولاستیک په شان یې غوښتل مذهب او فلسفه ګډه کړي. حکیم ناصر خسرو بلخي ددغه ډول ګډولو یا پخلا کولو یو نامتو استازی و چې په دغه لاره کې یې د زیاتو تالیفاتو په لیکلو خدمت وکړ. د صوفي او متکلم ترمنځ توپیر دا و چې متکلم د خدای (ج) د ذات په وحدت عقیده لرله او ویل یې چې په ټولو شیانو کې د خدای فعل جاري دی، خو صوفي د ټولو شیانو په وحدت عقیده لرله او ویل چې: په ټولو شیانو کې د خدای وجود جاري دی. صوفیانو حقیقت ته د رسیدلو لپاره د شریعت له مرحلې څخه د طریقت مرحلې ته تګ کاو او د کشف او شهود عاطفې و قلب له لارې یې (حقیقت) سره اتصال هیله وه. صوفیون له نظري پلوه د بزګرانو بیوزلو او خوارانو طرفداران وو او د ملي

Scanned by CamScanner

تعصباتو، مذهبي توپیرونو او وچ زهد په ضد وو دوی د استبداد، تجمل او بدایانو په ضد مخفي مبارزه کوله، صوفي د حاکمه طبقې په وړاندې سر نه ټیټاوه او په خپلو آثارو کې یې ستاینې نه کولې صوفیزم په لومړي پړاو کې، یعنې د شریعت په مرحله کې متبدی د شرع پیروي ښودله او په دوهمه یله مرحله کې یې د طریقت او توبې، ورع، زهد، فقر، صبر او د توکول او رضا توصیه ورته کوله تر څو د مراقبت، قرب، محبت، خون، رجا، شوق، الْنس او طنمیال حال تر لاسه کړي، په درېیمه مرحله کې یې یعنې د حقیقت په پړاو کې یې صوفي د یوش یمر شرعي او عرفي اندو او دیني احکامو له تر سره کولو معاف کید، ځکه چې دا مهال نو شرع فرع وه او تصوف اصل و. په دې پړاو کې صوفي د فنا في الله او بقافي الله درجو ته چې تر ټولو لوړې وی، رسید. تصوف ځانګړې اصطلاحات درلودل لکه ملکوت، جبروت، حریت، بصیرت، بشپړ انسان کیدل، سکر (بیهوشي)، خلوت، ریاضت، مراقبت، سماع، رقص، خرقه، رویت، جذبه، تسلیم، انس، اتصال، مرقع، زوایه، وجد، حال قبض، بسط او نور. د صوفیانو هغه عقاید چې له اشراقیانو سره یې ورته والی درلود، د صوفیانو د سیاسي او مذهبي چاپیریال تر اغیزې لاندې ورو ورو د اړتیا له مخې په رمزونو، اشارو، سمبولونو او تاویلاتو بدلې شوې، تر څو نور خلك ور باندې و نه پوهیږي او صوفي د تعصب او استبداد له خطرونو سره مخامخ نشي.

د اسلامي او مسیحي تصوف ترمنځ توپیر او له هندي تصوف سره یې فرق او د اسلامي تصوف نظري اړخ یو بل سره توپیرونه لري یعنې دا چې: مسیحي او اسلامي دواړه صوفیتوبونه له محدود ناسوتي طبیعت څخه د اعلی مفارقو لرونکی خالق ته وصول چې د محبت او طاعت له لارې کیږي، و یعنې: د الهی مرستې غوښتنه او پر خدایي فیض باندې یې توقف موخه وه، حال دا چې هندي تصوف زیاتره د وګړي په روح ژور تفکر او په روح کې ډوبیدل او له دغه مطلق سره اتحاد کول او د همدې ټکي تحقیق کول و. هندي تصوف په دې بنسټ ولاړ و چې فایض به خپل مفیض سره وصل کیږي. او همدارنګه په دې لټه کې به وي چې مبداء ته به عودت کوي او د طبیعت په وحدت کې لاهرتي دی چې مبدا یې هماغه واحد احد خو بنې یې بیلا بیلې دي. د اسلامي تصوف (وصول) په (اتصال) سره تعبیر کیږي، خو د هندي تصوف (وصول) یعنې ددغو موخو تر لاسه کیدل دي او په اتحاد تعبیر کیږي. اسلامي تصوف سلبي دی چې د ثنائیت له تحقق پرته خالق او مخلوق ریښتنوالی نه شي موندلی، خو هندي تصوف ایجابي بڼه لري چې مطلق سره اتحاد د بشري مجهود له لارې کیدای شي. په دې توګه دواړه تصوفونه د خپلې موخې او غایې او نهایت له پلوه سره ورته دي. د هندي تصوف طریقه په خپله سلبي بڼه کې د (جنانا) په نوم یادیږي. خو د حب فنای مرتقی په بڼه کې د (بهاکتا) په نوم یادیږي.

خو مسیحي تصوف: مسیحي تصوف په اروپا کې د نوي اپلاتوني فلسفي او عیسویت د ګډیدلو پایله وه چې په هغه مهال کې یې په پخوانیو عقلونو واك درلود. د دغې فلسفې وضع کوونکی (افلوطین) له (غیوبت) څخه د حقیقي معرفت ډولونه را منځته کړل او ویې ویل چې: احد فوق کل نعت او عالی له کل صور، اجل له کل حد او مصدر کل دی او له دې سره اتصال په ډېر سخت جهد او نادر تلاش سره تر لاسه

Scanned by CamScanner

کیدونکی دی همدا نظر و چې د رهبانیت او تجرد فکر یې رامنځته کړ. د فلوطین غیبوبت یو بل دین را منځته کړ او د بشریت غایه او موخه یې الهی حیات سره اتصال وبالَه. په داسې حال کې چې دا اتصال دایمي زهد او جهد غواړي. البته انجیل یوه ژوندی او مفارقه اله وه. آیرلندي جان اسکارت ایریجن[۱] په اتمه پیړۍ کې یعنی د اسلامي تصوف د را څرګندیدو پر مهال، د فلوطیني او کنیسه روش په ګډولو سره یو نوی ډول تصوف را منځته کړ چې ویل یې: د ټولو موجوداتو صدور له لومړنی مبدا څخه دي او بیرته هماغې مبداء ته ورګرځي او پایله یې دا ښودله چې الهی مملکت د تامل کوونکو او صوفیانو لپاره د مفتوح د نیوی ژوند ضد دی. (سنت بر نارد) د اوجین ثالث پاپ مشار (چې د دوهمې صلیبې جګړې خطنب و) ویل: ټوله فلسفه د مسیح په معرفت کې را ټوله شوی ده او د مسیح معرفت په حب الله یعنی ټاکلی لومړی نفس پای ته رسیږي. هغه د مسیحي صوفیانو ژوند د نجات له لارې اتباع کې منحصر باله چې لاندې خانګړتیاوې یې لرلی: په نفس کې تاسل، په عالم کې تامل او په خدای کې تامل کول چې لومړنی یې په یقیني ادراک پای ته رسیږي او وروستی یې په (غیبوبتي) پای ته رسیږي چې روح په خپل نفسي نه وي مستشعر او دومره اوچتیږي چې له الهی صله څخه ګټه اخلي. هوج دی سنت فیکتور په پاریس کې د الهیاتو استاد (۱۱۴۱ مړ) ددغې ډلې یو نامتو صوفي و چې په خپلو آثارو کې یې د خالص عقلي ثقافت او د هغه د پړاوونو شرح راوړی ده. په دغو پړاوونو کې یو یې (په الهی اوامرو او اخلاقو کې تامل) دی. بله یې (باطني خطبه) مرحله چې په هغې سره کشف القلوب کیږي او بیاد (حذر) مرحله ده چې د (صعود) پړاو یې بولي او هغه دريٍ درجې لري: (صعود په عمل کې). دا په خطا باندې د شخص اعتراف کول دي او د شتمني ویشل یې په ثراء احتقار باندې. (صعود په عاطفه کې) په نورو محبت او تواضع او (صعود په عقل کې)، د مخلوق معرفت او بیا د خالق معرفت. چې دا بیا په پنځو طریقو تحقق مومي. چې همدا د روحاني شهود پای دی چې ډیر لږ شمیر خلک ور رسیږي او دا هغه واصلان دي چې سکون او سلام او سعادت ته ور رسیږي. په دولسمه او دیارلسمه پیړۍ کې ډیر داسې صوفیان پیدا شول چې مسیحي اصولو ته پابند نه و او لکه د (اخوان عقل آزاد) د تصوف په شان یو روش یې درلود چې ویل یې: د تصوف آخري موخه د انسانو او د هغه د رب ترمنځ وحدت دی او رینټیانی صوفي هغه دی چې الهی روح د هغه په ژبه خبري وکړي، البته په څوارلسمه پیړۍ کې آلماني صوفیانو له نویو اپلاتوني آثارو ګټه اوچته کړه لکه (جان الکیریت) (۲) چې ویل یې: خدای د ټول معرفت څخه پورته او نا محدود دی، او الهی کائینات او له هغه څخه صادر شوی علم د هغه مخلوق دی. په شپاړسمه پیړۍ کې د مسیحي تصوف مرکز هسپانیا ته ولیږدید، سره له دې چې هغه د اسلامي تصوف تر کلکې اغیزې لاندې راغی، نو د پخواني تصوف اصلي جوهر یې نه درلود او د تصوف اصحاب په یو ډول جلا خوب کې او په خپلو ځانونو کې ډوب شوي وو، په داسې حال کې چې آن کاتولیک کنایس هم مومن له عمل او حیات څخه نه معاف کول او روحاني تامل یې ور څخه هیله کوله. په هر حال؛ د اسپانیا

---

۱- Jean Sco ttergene

۲- Jean Eckert

تصوف د بشر له رح پیل وکړ او پړاو په پړاو اوچت شو تر څو خدای سره واصل شو.
خو اسلامي تصوف په اتمه پیړۍ کې را څرګند شو. هغه مهال صوفیان په کوفه او بصره کې خواره وو دغو دواړو ښارونو کې پخوا له مسلمانانو سره مسیحیان، مجوسیان، یهود له بیلا بیلو نظریاتو سره یو ځای اوسیدل. همدغو بیلا بیلو نظریاتو یو پر بل متقابلې اغیزې درلودې لومړنیو صوفیانو لا د صوفي نوم نه و غوره کړی. دغه کلمه وروسته را پیدا شوه، خو تر دا مهال پورې دوی ته زاهد، عابد او عارفان ویل کیدل، خو زاهد هغه څوك و چې د مرتاضانو په بڼه به یې د دنیا له خوندونو ډډه کوله. عابد هغه څوك و چې د الله (ج) په طاعت او عبادت بوخت او د کتاب او سنتو په انفاذ لګیا و. عارف خدای ته متوجه و او د پوهې له مخې د هغه ذات په پیژندنه بوخت و. په دې توګه اشاعره عارفان او هل حدیث له فلسفي عارفانو څخه جلا شول. په بصره کې حسن بصري (۷۲۸ مړ) د زاهدانو مشر و چې د وګړی حریت یې تائیداو او د کوفې تصوف د شریعت ظواهر معتبر ګڼل. په نهمه پیړۍ کې بغداد هم د تصوف مرکز شو چې د ناسکینو او متکلمینو ترمنځ جدال پیل شو، فقها وو هم په دغه جدال کې د صوفیانو پر ضد ګډون وکړ، دا ځکه فقهاء د ظواهرو پلویان وو او صوفي د ضمیر او قلب. له اتمې پیړۍ څخه وروسته تصوف او اسلامي عرفان پر مختیا وکړه او په ګڼ شمیر اسلامي هېوادونو کې یې پراختیا وکړه، خو اصلي زانګو یې په نژدې ختیځ کې عراق او په منځنۍ آسیا کې افغانستان و چې صوفیزم ته یې وده ورکړه. تصوف ماورالنهر ته له افغاسنتان څخه تللی او په یوولسمه پیړۍ کې د عرفان دایره هلته پراخه شوه، آن دا چې د نهمې پیړۍ په عرفاني غورځنګ کې چې (سکر) د (صحو) ځای ونیو او د فنا في الله عقیده را منځته شوه. د هغې مخکښ بایزید بسطامي او وروسته بیا ابي الخیرو، دا ځکه چې افغانستان صوفیان د عراق تر صوفیانو افراطي وو.

په هر حال؛ تصوف چې په پیل کې یوازې په (اشارو) بسنه کوله او د دفتر او ماضي علومو مخالف وو ورو ورو په عبارتونو کې را وستل شو او بیا یې لیکلی بڼه ونیوه او آن د منبرونو سرته وخوت او عام شو او یو شمیر نامتو صوفیان لکه ذوالنون، جنید، او شبلي په دې لاره کې تر نورو مخکې وو. همدارنګه خانقاوې جوړې شوې او د تصوف دودونه، مقررات او اداب لکه ناسته- ولاړه، خوراك، اغوستل، لیدنې کتنې او سفر او سماع او نور رامنځته شوه. د افغانستان صوفیانو لکه ابو سعید ابی الخیر او عبدالله انصاري په دې لاره کې ډیرې هڅې وکړې. په رقص او سماع کې (چې صوفیان هلته شور او هیجان ته راځي او په ولولو را پاریږي آن دا چې کله هم خپلې جامې څیروي، شبلي، ذوالنون، خراز او نوري یې پلویان وو). عبد الله انصاري یو جلا څپرکی د (مختصر في آداب الصوفیه) په نوم ولیك او د سماع کولو قیود یې درانه و بلل او ویې ویل چې له سماع څخه موخه (د جابت دعوت او د (بلوغ مشاهده) ده، نه نا واثق وسایل جوړول د وجد لپاره. له دې ټولو سره سره چې په اصل کې یې له قرآن څخه سرچینه وه ورو ورو له مسیحي رهبانیت (چې په مرتاضیت او د دنیا په پرېښودلو ولاړ او تجرد، زهادت او ریاضت او داسې نورو ځانګړتیا وو څخه اغېزمن شو او د نوی اپلاتوني نظر یې تر سیوری لاندې چې د وحدت وجود په عقیدې یې ډډه لګوله او بودایي او هندي فلسفه چې د فنا د فکر

Scanned by CamScanner

خپروونکی وه له دې سره ګډ شول. داسې ویل کیدای شي چې صوفیه مراقبه له هندي (دیانا) او صوفیه فنا د هند له شخصي انعدام سره ورته والی و موند خو توپیر دا و چې هندي روش یواځې د باطن په تصفیه او اخلاقي روزنې پورې تړلی و او د هغه فنا له درد څخه د نجات موندلو لپاره وه. خو بودایي (نیروا نا) بیخي منفي وه او په مطلقه فنا ولاړه وه. حال دا چې د صوفي فنا له بقا (باقي باالله) سره یو ځای وه. په هر حال: د اسلامي د شرع او تصوف ترمنځ یو ښکاره توپیر او تناقض و، شرع مفارق اعلی پیژني چې له هستي او خلقو څخه بهر او له شیانو سره نه ګډیدونکی ده. حال دا چې صوفي خدای په ټولو شیانو کې ساري بولي او په عالم یو واقعي او حقیقي وجود او یو کلي حقیقت خپورش وی بولي. د صوفي په نظر اسلام او بت لمانځنه، کعبه او میکده، صومعه او صنم ټول یو شی دی او هغه دا مشترک حقیقت د (صلح کل) سبب بولي. خو د یوولسمي پیړۍ فقها وو د صوفي او تصوف په هکله داسې قضاوت کاو: د صوفي نوم له ۲۰۰ هجري کال څخه لږ مخکې (اتمه پیړۍ کې) پیدا شو. د هغه مهال صوفیانو په دې برخه کې ډیرې خبرې کړي دي چې پایله یې داده: تصوف ریاضت، د نفس سره جهاد او د رذیله اخلاقو اړول په جمیله اخلاقو باندې دي او د زهد، حلم، صبر، صدق او اخلاقو روزنه ده چې هم په دنیا او هم په آخرت د ستاینې وړ دي. بغدادي جنید ویلي و: تصوف یعنی له هر بدخوی څخه را وتل او هر ښه خلق ته ننوتل دي. همدارنګه (رومي) ویلي و: ټول خلک یو شمیر دودونه لري، صوفیان حقایق لري. خلک ځان د شرع په ظواهرو سمبالوي، خو صوفیان په پرهیزګاري او صدق کې ځان سمبالوي، په پیل کې دوی همداسې وو، خو وروسته شیطان و غولول او هره ورځ یې یو نوی تلبیس ورته وړاندې کړ، چې بیا په هره پیړۍ کې دغه تلبیسونه ډیر شول، تر څو د هغوی وروستي ډلې په تبلیس کې پټ شول. د ابلیس اصلي تبلیس دا و چې صوفیان یې له علم څخه واړول او دوی ته یې داسې څرګنده کړه چې د شرع واقعي موخه عمل دی او بس، کله چې له دوی سره د علم ډیوه مړه شوه نو د جهل تیارې خورې شوی او دوی راز راز اشتباهات کړل، ځینو نورو شرع د دنیا بیخي پرېښودل و ګڼل، مال یې لړم و باله او هیر یې کړه چې مال د یو شمیر اړتیا وو لپاره پیدا شوی. یو شمیر نورو د بدن اړتیاوې پرېښودې ډیره مبالغه یې وکړه آن دا چې یو شمیر نورو هیڅ خوب نه کاو. ددې خلکو مقصد ښه و، خو هغه ته د رسیدلو طریقې سمې نه وې. ځینو د علم د کمښت له امله په حدیثو داسې عمل کاو چې په معنا یې بیخي نه پوهیدل. وروسته بیا یوه بله ډله پیدا شوه چې په جوع، فقر، وساوس او خطراتو کې غړیدل لکه حارث محاسبي چې په دې برخو کې یې یو کتاب هم تصنیف کړ. وروسته بیا یوه بله ډله راغله چې په تصوف کې یې یو شمیر بدلونونه راوستل او تصوف ته یې یو شمیر ځانګړتیاوې ورکړې چې له نورو فرقو یې توپیر وشي له مرقع، سماع، وجد، رقص او نظافت ته ډیره زیاته پاملرنه. ورو ورو دغې طریقې پرمختګ وکړ او هر شیخ په هغو کې یو څه نور هم ور اضافه کړل او آن دا چې د خدای د رویت ادعا یې وکړه او خپل رویت یې د علومو تر ټولو وافي وښود او آن دا چې خپل علم ته یې علم باطن نوم ورکړ او په داسې حال کې چې شریعت علم ته یې علم ظاهر نوم ورکړی و. د دوی یو شمیر په سخت ریاضت، لوږه، او نورو ستخیو کې په فاسدو خیالونو اخته شول او د مینې په داعیه ښکیل شول لکه یو ځوک چې صبیح المنظر په خپل

Scanned by CamScanner

خیال کې راولي او بیا مینه ور سره کوي. لنډه دا چې ډول ډول کفرونه او بدعتونه پیدا شول او په بیلا بیلو طریقو و ویشل شول، ځیني په حلول قایل شول، ځینو په اتحاد فکر وکړ او په دې توګه د ابلیس په تلبیس اخته شول ترڅو چې ابو عبدالرحمن السلمي هغوی ته د سنن کتاب ولیك او د علمي اصولو په پام کې نیولو پرته یې د هغه تفسیر وکړ.(۱)

په تصوف باندې په اعتراض کولو فقها یوازې نه دي، بلکې هغوی چې په علمي ډول فکر کوي، په یوه بله بڼه په دغه اعتراض کې شریك دي او د تجربي علومو په واسطه د تصوف په تحلیل کې دې پایلې ته رسیدلي چې غیبوبیت یا د تصوف سکر په حقیقت کې یو فزیولوجیکي سکر دی، خو د تاریخ له پلوه، د تصوف جریان د مسلمانو ملتونو د فکري تمدن د ارکانو یو رکن و. دوی په پیل کې د «وحدت وجودي» د اصل پر بنسټ د بشري اخوت غوښتونکی او د «صلح کل» پلویان وو چې له ملي او مذهبي تعصباتو څخه یې ډډه کوله.

په هر حال؛ اسلامي تصوف ورو ورو په بیلا بیلو روشونو او طریقو وویشل شو او ګڼ شمیر مرشدین پیدا شول، د بېلګې په توګه د عرفان یو شمېر نامتو څیر دادي: سفیان ثوري کوفي (۷۴۳ مړ). نوموړی د فقهاوو په ډله کې لوی سړی او د اهل سنت د طریقې لاروی و چې قرآن یې غیر مخلوق او قول عمل او نیت یې د ایمان نښې بللې. ذوالنون مصري (۸۵۹ مړ) نامتو صوفي او په طب، کیمیا، سحر او عزایمو کې د مجرباتو د کتاب مؤلف و همدازنګه (في حجر الحکما) د شعرونو ویونکی او له خپل شاګرد یعقوب سره د مناظرې کوونکی و. دغه صوفي د سماع پلوی هم و چې فقها وو هغه زندیق وباله. ابو عبد الله حارث بن اسد المحاسبي (۸۵۷ مړ) شافعي مذهبه صوفي او د کلام په علم کې متبحر عالم، نوموړی د معتزله وو له مفرداتو او منطق څخه بیرته د دوی په ضد کار اخیست. د الرعایه لحقوق الله، في المبادي العشره الموصله الي السعادة، شرح المعان، البعثه و النشر، رساله في الخلاق، التوهم، ماهیة العقل و معناه، رساله في العظمه او رساله في فهم الصلوة د همده تالیفات دي. د محاسبې د کلام د علم ماهر او د ایمان او معرفت او د علم او عقل ترمنځ په توپیر قایل و. متکلمین، فقها او محدثین زیاتره دده یرغل کوونکی دښمنان وو. امام حنبل او د هغه پلویانو دومره په نوموړی باندې یرغلونه وکړل چې تر څو هغه په علمي غونډو کې له کیناستو تیر شو او په یوه ګوښه کې یې ژوند غوره کړ. ابوالحسن نوری چې په بغداد کې زیږیدلی او په ۹۰۷ کې وفات شوی دی د جنید د تره (سقطي) پخوا شاګرد و چې د عباسي خلیفه موفق د قهر وړ و ګرځید. نوري د غیبوبت په حالت کې مړ شو. شیخ عبدالقادر جیلاني (۱۱۲۵ مړ) یو ډیر کار کوونکی مولف و چې نامتو آثار یې فتوح الغیب، الفتح الرباني، جلاء الخاطر او الغنیه لطالب طریق الحق وو. هغه په ځواني کې له ګیلان څخه بغداد ته ولاړ او د تصوف په طریقه کې داخل شو چې ژر په تقوا او صلاح کې د نوم خاوند شو.

---

۱ – د ابو الفرج عبدالرحمن بن الجوزي بغدادي حنبلي مذهبه تالیف شوکي (نقد العلم و العلما) د کتاب په نقل، د لومړي برخې د تصوف د تاریخ له بحث څخه اقتباس (نوموړی په ۱۲۰۰ مسیحي کې مړ شوی) د بحث او الار حافظ د کتاب دوهم توک: (داکتر قاسم غني تالیف، د تهران چاپ، ۱۳۲۲ شمسي کال چاپ.

ابو نجیب سهروردي (۱۱۶۸ م) په فقه کې متخصص او په سنتو کې یو مدرس و چې ډیر شاګردان یې روزلي. هغه په ایران، شام او بغداد کې سفرونه کړي او هلته اوسیدلی. د (آداب المریدین) کتاب د همده تالیف دی. شیخ شهاب الدین ابو حفص عمر بن محمد سروردي چې په ۱۱۴۴ کې په بغداد کې زیږیدلی و (۱۲۳۴ م) د عبدالقادر جیلاني شاګرد او د عمل لرونکی عالم په فلسفه او او اسلامي شریعت کې یې د امام غزالي په قدم تګ کاو او په بغداد کې یې د صوفیانو د خانقاوو سرپرستي کوله. د (کشف الفضایح الیونیانیه) او (عوارف المعارف) کتابونه یې نوم لري.

د افغانستان په صوفیانو کې یو هم ابراهیم ادهم بلخي و چې د هغه په هکله اسطوره ډوله نکلونه ډیر کېږي. بل ابو یزید بسطامي و (۸۷۷ م) چې آثار یې نه دي پاتې. بایزید د (نظري تصوف) استازی و چې د (فنا) د فکر لومړنی خپروونکی هم همدې بلل کېږي. د صوفیانو په اصطلاح کې فنا په صوفي کې د بشري صفتونو له منځه تلل دي. هغه څه چې د بایزید په هکله ویل شوي دي باید ډېر په غور او دقت سره وکتل شي، دا ځکه چې هغه ډیر متعصب مخالفین درلودل کله چې له هغه څخه و پوښتل شول چې په څه دې دا معرفت وموند؟ خواب یې ورکړ: په تس نس او لوڅ خان عبدالکریم ابوالقاسم قشیري خراساني (۱۰۷۲ م) یو بل صوفي و چې په بغداد کې یې فقه او سنت په شافعي طریقه درس ورکاو، وروسته نیشاپور ته راغی د (قشریه) او (الترتیب في طریق الله) کتابونه یې مشهور اثار دي چې په راتلونکو نورو باندې یې ژوره اغیزه وکړه. همدارنګه خواجه عبد الله اصناري د کتاب او سنت طرفدار صوفي او عارف و (۱۰۸۲ م) خواجه عبد الله انصاري حنبلي مذهبه صوفي او د سنتو پلوي او د متکلمینو کلك دښمن و هم یې متعزله او هم یې اشعري متکلم نه خوښیدل، چې د خپل دوران یو د مذهبي عصبیت او کامل فقاهت لوی استازی و. هغه فقیه، محدث، مولف او شاعر او په تصوف کې له حسن حزقاني یعنی د خراسان نامتو بې سواده صوفي څخه اغیزمن و. انصاري په قرآن او سنتو ډېره لګوله د روحي مذهب د استقامت وسیله او شریعت او طریقت یې یو د بل اړین بلل. دوستانو یې هغه (رکن الدفاع عن الکتاب و النسته) بآله او دوه دښمنانو (متکلمینو) هغه تقدیس او توحید ته ګواښ باله او هغه یې په تشبیه او تجسم بآندې تورن کړی و. همدارنګه انصاري یو کتاب د هغوی په هکله د (ذم علم الکلام و اهله) په نوم لیکلی و. انصاري په پراخه معارف او ژورې تقوا مشهور و. هغه د (منازل السایرین) په کتاب کې د شرع د اهل مراحل د طریقت خواته داسې ښودلي وو: اراده، ضعف، توکل، صبر، حزن، خون، رجا، شکر، محبت او شوق. نوموړی ویل چې: که په دې لاره تلونکی همدا حقیقت و ویني نو احوال یې له نظرونو پټ شي او هغه چې لم یکن دي هغسې فنا کېږي، هغه چې تلپاتي دی هغه به پاتې وي. انصاري له شریعت سره د طریقت په برابرولو کې اسلامي تصوف له اپلاتوني عرفان او هندي عرفان څخه جلا کړ، په همدې خاطر د هغه طریقه په تصوف کې ډیره نامتو شوه. د انصاري نامتو تالیفات (صد میدان) او (طبقات الصوفیه) دي. دده (الهی نامه) د دري ادب د مسجع نثر یوه مخکښه بېلګه ده. انصاري په خپل تدریس کې د خپلو زده کوونکو د استعداد اندازه په پام کې نیوله، له همدې امله یې (ترمذي) د (بخاري او مسلم) په پرتله غوره ګڼل او ویل به یې چې په دغه لومړی کتاب باندې عام او خاص ټول پوهیږي، خو

Scanned by CamScanner

په دوهم او درېیم باندې یو شمیر خاص خلك پوهیدای شي، انصاري به ویل چې صوفیان خلك د غفلت له خو به را ویښوي او ددین له بشپړولو وروسته یې حقیقت ته د رسیدلو لپاره چمتو کوي هم د شریعت له لارې او هم په نورو لارو. همدارنګه د کتاب او سنتو د لارې یو بل صوفي ابو حامد امام محمد غزالي خراساني و چې مخکې ور څخه یادونه شوې ده، خو د اسلام نظري نامتو صوفیان دادي:

حسین بن منصور حلاج بیضاوي ایراني (په ۹۲۱ کې ووژل شوی) چې د سهیل بن عبد الله تستري هغه وروسته تر اوږدو مزلونو په افغانستان، چین، بغداد، حجا او بین النهرین کې تدریس وکړ او د صوفیانو نظریات یې خپرول، آن دا چې یو شمیر خلکو هغه ته ساحر، ځینو وروته مجنون او ځینو نورو ورته د کراماتو خاوند ویل له دغه وروستی صفت څخه یې فقها په غوسه شول او خلیفه عباسي یې اړ کړ چې هغه اعدام کړي. د مسلمینو خلیفه له امر سره سم یې حلاج په وحشیانه ډول مثله کړ یعنی د هغه لاسونه، پښې او سر یې ور پرې کړل او هم یې سنګسار کړ، خو هغه آه هم و نه کړ او ویې خندل او بیا بیا یې وویل اناالحق. د هغه ډیر تالیفات وو چې ۲۴ کتابونه یې ابن الندیم یاد کړي دي، چې له هغو څخه اوس یواځې تیت او پرك فقرې پاتې دي. د نوموړي د کتابونو عنوانه د تصوف په برخه کې د هغو اهمیت ښکاره کوي. د حلاج مذهب یو ډول د (الحلو لیه الشریفیه) مذهب و. ډیر فقها، محدثین، عوام او صوفیان یې دښمنان شوي وو لکه ابراهیم بن شیبان القرمسیني چې د سیستان او اصفهان د صوفیانو مشر او په ۹۴۸ کې مړ شوی، ابي زرعه طبري (۹۲۳ مړ) او ابو نعیم اصفهاني (۱۰۳۸ مړ). دغو دوو وروستی لیکوالو حلاج په خپلو لیکنو کې ډیر تر برید لاندې نیولی. د حلاج نامتو پلویان هم وو لکه ابن عطاله اجله سینان څخه چې د جنید نظري مخالف و، حامد بن عباس د هغه مهال وزیر. دغه وزیر د هغه مهال فقها د خبرو د تېولولو لپاره را و غوښتل او په لیکلي بڼه یې د حلاج د عقیدې په هکله له هغوی څخه پوښتنې وکړې. ابن عطا په ځواب کې ورته ولیکل: انه اعتقاد حق و انتي ادین به و کل من الابدین به لا عقیدة له.

وزیر امر وکړ چې پښې یې وکاږي او په سر سر یې ووهي، دومره یې وواهه چې له پوزې څخه یې وینې راغلی. شیخ شهاب الدین یحیی بن خبش سهروردي چې په شیخ الشراق سره مشهور و او په شیخ مقتول سره هم یادید، په حلب کې په ۱۱۵۳ کې زیږیدلی و، د سلطان صلاح الدین ایوبي په امر د حکمت په جرم په ۱۱۹۰ کې ووژل شو. دا د صوفیه یو شیخ و چې مذهب یې له نوي اپلاتوني حلولیه نظر یې څخه اغیز من و، دا هماغه مذهب و چې مخکې تر نوموړي حلاج ښودلی و او ابن سینا اشراقیه، مدرسې سره سم له نوی اپلاتوني نظریې څخه اغیزمن و. عالم سهروردي دوه ډله و: د نور عالم او د ظلام عالم. عالم نور عالم روحاني اعلی او منیر (روښانه) و چې په سر کې یې نور- نور دی. عالم ظلام هغه دی چې مادیات دي. کتاب حکمت الاشراقیه د نوموړي تالیف و.

ابن العربي محي الدین ابوبکر محمد بن علي بن عربي الحاتمي الطایي چې په اندلس کې زیږیدلی او په ۱۲۴۰ کې په سوریه کې ومړ، صوفي، په وحدت وجود باندې ایمان لرونکی او د اپلاتونیانو او ارسطو او نورو له نظریاتو څخه اغیزمن و، خو هڅه یې کوله چې ځان پټ وساتي تر څو لکه د حلاج او

Scanned by CamScanner

سهروردي په شان اعدام نه شي. هغه په خپل نامتو کتاب (فصوص الحکم) ډیر فلسفي نظریات څرګند کړي دي، خو د متعصبینو له شر څخه د ځان ساتلو لپاره یې هغه د انبیاوو له تاریخ سره ګډ کړي دي. د ابن العربي مولفات یې ۳۰۰ ټوکه ښودلي دي چې نامتو یې دادي: فتوحات مکیه (چې د ټولو صوفي عارفانو لرونکی کتاب دی)، فصوص الحکم، محاضرات الابرار او مسافرات الاخیار او اولس نور کتابونه. د ابن العربي له مړینې وروسته متعصبینو د هغه قبر وران کړ، خو وروسته بیا سلطان سلیم عثماني هغه بیرته جوړ کړ.

د افغانستان نور صوفیان شقیق، احمد خضرویه بلخي، فضیل بن عیاض، بشر هروي، معروف کروخي، شیخ ابراهیم مروي، عمر بن مسلم حداد نیشاپوري، حمدون بن احمد نیشاپوري، ابو عبد الله طاقي، یحیی سیستاني، شیخ نجم الدین کبري، شیخ احمد غزالي چې د امام محمد غزالي ورور و او نور وو. دوی ټول د صوفیانه افکارو خپروونکی وو، د بېلګې په توګه ابو الحسن خرقاني د انصاري مرشد، تصوف ته ډیره لوړتیا ور وبښله او ابو سعید ابي الخیر خانقا جوړه کړه او فلسفي او مذهبي مباحثه یې رواج کړه او تصوف ته یې پراختیا ورکړه. همده په دري ژبه عرفاني رباعیات هم ولیکل علي هجویري غزنوي اولین کتاب د تصوف په دري ژبه ولیک اوت حکیم سنایي غزنوي او فرید الدین عطار نیشاپوري په منځنۍ اسیا کې نامتو متوصفه شاعران وو او په پای کې دا چې د نړۍ تر ټولو لوی تصوفي شاعر بلخي مولوي و چې د وسطي آسیا د ثقافت او فرهنګ د انحطاط او زوال پر مهال یې د مینې، هیجان او لیونی عشق او شور په تیلو د تصوف ډیوه روښانه وساتله.

## ادب او هنر

په افغانستان کې د عربو له راتګ او د اسلام د دین له خپریدو وروسته، عربي دیني ژبه چې ورو ورو علمي شوه او د نورو منتونو له علومو څخه د ژباړو په واسطه لا بډایه کیدله. دغه ژبه د نورو نویو مسلمانو شویو هېوادونو د رسمي، علمي او دیني ژبې په توګه منله کیدله، په افغانستان کې هم و منل شوه او عربي ژبه او لیک رواج و موند او ډیر ژر یې و کولای شول چې په هېواد کې نورې مروجه ژبې لاندې کړي. په دې کې یواځې دري ژبه چې له اسلام څخه مخکې خبرې ور باندې کیدې، د هغه اهمیت له مخې چې درلودیې ژوندۍ پاتې شوه. دا یواځې نه، بلکې دري ژبې عربي لغتونه را واخیستل او د هغې لیکدود یې چې د پخوانیو لیکدودونو په پرتله آسانه او ساده و، هم را واخیست، ددې په بدل کې یې خپل یو شمیر لغتونه هم عربي ته ورکړل. په دې توګه دري ژبې پراختیا و مونده او عربي لیک د دري ژبې او فرهنګ د پراختیا په لاره کې خدمت وکړ. د دوو پیړیو په ترځ کې دري نوې ژبې دومره پرمختګ وکړ چې په نهمه پیړۍ او د افغانستان د صفاري دولت پر مهال یې د واکمنې عربې ژبې په وړاندې مخکې والي و موند. له هغه وروسته بیا د افغانستان نورو ټولو دولتونو او خلکو هم دري ژبو او هم ترکي ژبو د دري ژبې ملاتړ وکړ او هغه یې د هېواد دننه او بهر پراخه کړه، وروسته بیا پښتنو هم کټ مټ همدا کار په هندوستان کې د دري ژبې په برخه کې وکړ. اصلاً د افغانستان او هندوستان اړیکې له پخوا څخه موجودې وې. څو زره کاله مخکې ریګویدي سرودونه څه نا څه له لرغوني سانسکریت ادبیاتو سره له

Scanned by CamScanner

افغانستان څخه د مهاجرو آريـانو په واسطه هند ته ولاړل، چې ورو ورو يې په هند کې او د هغه ځای په لهجو کې اغيزه وکړه، بيا داسې يو مهال راغی چې افغانستان دغه لرغوني ژبه له بودايي دين سره يو ځای له هندوستان څخه واخيستل او د لمر لمانځنې آئيين يې لکه د ګريکو باختري صنعت په شان هندوستان ته ورکړ. په منځنيو پيړيو کې دغه اغيزه او د دواړو هېوادونو ترمنځ راکړه ورکړه لا زياته شوه. د اسلام دين د افغانستان له دري ادب او ژبې سره يو ځای د غزنوي دولت پر مهال هندوستان ته ورغلل، دا يوازې يوه نظامي عمليه نه وه، بلکې د افغانستان د علماوو او اديبانو يو کاروان يې خان پسې درلود. په همدې دليل زر کاله مخکې لاهور د افغانستان فرهنګي مرکز و ګرځيد او د علي هجويري غزنوي تاليفات همدا مهال همدلته معرفي شول او په هندي باندې د اقليدس، مجسطي او رد اسطرلاب د رسالې په ژباړلو سره هندوستان له اسلامي معارف سره و تړل شو. د افغانستان شاعرانو هم لکه عسجدي او فرخي د دري ادب هلته وليږ داو. د مختاري او مبارکشاه شعرونو د هندوستان په ښارونو کې انګازې وکړې.

له پنځلسمې تر شپاړسمې پيړۍ پورې د پنځه سوه کالو په ترڅ کې د افغانستان ژبې او فرهنګ د هندوستان په لوی هېواد کې خپلې ودې ته دوام ورکړ. د چنګيز خان يرغلونه او ويجاړونې په افغانستان کې ددې لامل و ګرځيدې چې نور پاتې علمي، سياسي او نظامي خلك هم هند ته مهاجر شي او هلته يې د اسلامي دولت تر سيوري لاندې خپل علمي استعدادونه وځلول. په همدې دوره کې بهاء الدين اوسي، امير روحاني، منهاج السراج، جوزجاني، شيخ عثماني ترمذي، همزه اسفزايني، کاشف هروي، محمد عوفي او نور ټول په هند کې د ژبې او ادب مخکښان وو. فيروز شاه تغلقي هوډ وکړ چې د نګر کوت جالانګهی کتابتون (يوزر او پنځه سوه کتابونه يې لرل) له هندي څخه په دري ژبه و ژباړي. د دلايل فيروز شاهي، تاريخ فيروز شاهي او فتوحات فيروز شاهي کتابونه همدا مهال د اعز الدين خالد خاني و ضياء الدين برني او په خپله د فيروز شاه له خوا په همدې مهال تاليف شول. د سکندر شاه لودي په دوره کې دري خط او ژبې په هند کې پراخوالی و موند. سکندر شاه په خپله د (ګلرخي) په نوم يا تخلص سره شعرونه ليکل. سکندري فرهنګ هم په همدې دوره کې وليکل شو. د پنجاب د حاکم دولت خان لودی زوی غازي خان د ملوکت د کلا کتابتون پرانيست او په کشمير کې سکندر شاه کشميري په خپله دري اشعار ليکل او يو شمير پوهانو لکه سيد محمد همداني چې د شمسيه شرح لرونکی و. سيد محمد خاوري چې خاور نامه لري او قاضي سيد محمد حيسن او مير سيد محمد د تنوير کتاب لرونکی ټولو د اسلامي فرهنګ او دري ژبې او ادب په غوړيدو کې خدمتونه وکړل. سلطان زين العابدين په کشمير کې يو کتابتون پرانيست او د مهابهارت او راج ترنګني له هندي څخه په دري ژبه وژباړل او دري آثار يې په کشمير کې وژباړل. د دري فرهنګ، ادب او ژبې د غه پراختيا په هندوستان کې هغه هېواد د دري ژبې او فرهنګ په نوی زانګو بدل کړ او دري ژبه د څو سوه کلونو لپاره د هندوستان رسمي او ادبي ژبه پاتې شوه.

د هند بابري دولت چې د افغانستان د پخوانيو دولتونو ځای ناستی شو هم همدا کار پر مخ بوت. نو

ځرګنده خبره وه چې په امیر خسرو دهلوي، صدرالدین زکریا او خواجه حسن دهلوي پسې وروسته نور ادیبان او لیکوال لکه سعد سلمان لاهوري. فرید الدین دهلوي. تاج الدین عراقي. موید جاجري، موید دیوانه، امیر ارسلان کلامي، اختیار الدین باغي. سراج الدین ساوه یې. باقي خطیب، امیر حسن سنجري، صدرالدین عالي، حمید راجه، شهاب الدین صدر نشین. فخر الدین نافله. شهاب الدین خطیب، فخري غواص، مظهر ګجراتي او شهابت الدین بدواني او نور او بیا په دوی پسې نور مولفین لکه ابو الفضل (د آئین اکبري لیکوال)، نظام الدین احمد هروي (د طبقات اکبر شاهي لیکوال) امیر ناتهه (د ظفر نامه رنجیت لیکوال) او په لسګونو نور عالمان، لیکوال او شعراء را منځته شول. میرزا عبدالقادر بیدل د هندوستان د دري ژبې ډېر نامتو شاعر و چې په یواځېتوب سره کولای شي د هندوستان د دري ژبې ادب ځرګند کړي. البته په هندوستان باندې د اروپایي ښکیلاك خپریدو له اتلسمې پیړۍ وروسته و کولای شول چې دري ادب او ژبه لکه د هندوستان د ملي خپلواکي په شان د هغه هېواد له پولو وشړي او په ځای یې انګریزي رواج کړي. له دې امله چې د هغه مهال په افغانستان کې کاغذ چې لومړۍ له چین څخه او وروسته بیا له ماورالنهر او په تیره له سمرقند څخه وراد کید، ډېر زیات او ارزانه و او یوې تختې یې دوه درهمه بیه درلوده او اجیر نساخان (نسخه لیکونکي) هم زیات او مزد یې کم و، نو د هېواد فرهنګ او ادب له اسلام څخه د مخکې دورې په پرتله ډېر پرمختګ وکړ او په لسمه پیړۍ کې زیات شمیر ادبي او علمي آثار را منځته شول. په یوولسمه او دولسمه پیړۍ کې ددغه پرمختګ چټکوالی دومره زیات و چې افغانستان د ژبې او ادب له پلوه د نړۍ د پر مختللو هېوادو په لومړۍ کتار کې و درید او په مرکزي ښارونو او پلازمېنه کې کتابتونونه موجود وو. غزنوي، ساماني او ورپسې سلجوقي، غوري او خوارزمي دولتونو ټولو د دري ادب او ژبې د پرمختګ په لاره کې لوی خدمتونه وکړل، سره له دې چې د ټولو اسلامي هېوادونو علما او بین الاسلامي ژبه عربي وه او د افغانستان د علما وو علمي ژبه هم عربي او علمي آثار یې په عربي لیکل آن دا چې د افغانستان شاعرانو او د بیرانو په عربي ژبه باندې په پوهه او شعر لیکلو کې ډېر نوم درلود لکه بشار بن برد تخارستاني، امیر عبد الله طاهري، ابو الفتح بستي او حسن میوندي او نور دا وخت دري ژبې خپله خپلواکي او ادبي ارزښت نه یواځې له لاسه ور نه کړ، بلکې ګام په ګام یې د علمي. کیدو په لورې پرمختګ وکړ، چې په دې کې اسلامي تصوف او عرفان د دري ادب په پرمختګ کې ژوره اغیزه وکړه او په یوه زړه را ښکونکې بڼه یې په دري ادب کې ځلا ومونده. همدا مهال په دیني، ادبي، تاریخي، جغرافیاوي او د حکمت او عرفان په برخو کې ارزښتمن اثار را منځته شول لکه: د بلخي عجایب البلدان، د ابو منصوري او مسعودي مروزي د نثر او نظم شهنامې، د طبري د تفسیر او تاریخ ژباړې، د هروي حقایق الادویه، د جوزجاني حدود العالم، د بروني مسالك الممالك، د بیهقي، ګردیزي او سیستاني تاریخونه، د ابن سینا دانشنامه، د بروني التفهیم، کلیله او دمنه ژباړه، د غزنوي کشف المحبوب، د بلخي مقامات حمیدي، چهار مقاله عروضي، د ناصر خسرو سفرنامه، زادالمسافرین او وجه دین، د وطواط حدایق السحر، د نظام الملك سیاست نامه او نور. منظوم دري آثار دومره زیات دي

Scanned by CamScanner

چې دلته یې د نومونو ځای کول ستونزمن دي. ویل کېږي، چې د غزنوي په دربار کې ۴۰۰ تنو شاعرانو ژوند کاو. که داخبره ومنو نو ویلای شو چې په هغه مهال کې د هیڅ هېواد پلازمېنه په ټوله نړۍ کې د افغانستان په شان د شاعرانو د را ټولیدو ځای نه و. ښکاره خبره داده چې د غزنوي دولت په تیره د محمود غزنوي د دوري په اندازه هیڅ داسې دولت نه و چې شاعران یې دومره ستایلي او هڅولي وي د دري ژبې لومړنی ملك الشعرا عنصري بلخي د محمود پر مهال په خپل دسترخوان باندې د سرو زرو او سپینو زرو لوښي کارول. شاعر زیبني یو ځل له سلطان مسعود څخه یو مسکوك پیل د سپینو زرو (یو میلیون درهمه) سوغات تر لاسه کړی و. نو هیڅ له امکان څخه لرې نه ده چې په هغه مهال کې چې پیسې او شتمني ټوله د حاکمه طبقې په لاس کې وه، د وسطي آسیا په هره سیمه کې به چې کوم شاعر و، دغه دربار ته به راته. د دري ژبې شاعران د حنظله بادغیسي له مهال څخه نیولې تر دیارلسمې پیړۍ پورې .چې دقیقي او عنصري بلخي، فرخي سیتاني، سنایي غزنوي، اسدي، خیام، انوري او ظهیر او نورو ژوند کاو او د ټولو په سر کې د نړۍ تر ټولو لوی رزمي شاعر فردوسي طوسي (۱۰۲۸) و. افغانستان له ډېر پخوا څخه د حماسي اشعارو لرونکی و چې وروسته بیا ورو ورو دیني روح پکې ور ننوت چې د خدای او دین په لاره کې به د فداکاري روحیه پکې توصیه کیدله. له دې ټولو سره سره د اویستاله دورې څخه را وروسته د افغانستان د ادب بنسټ د مینې، پاکي، احسان، زړور توب، خدای پالنې او هیلو باندې ولاړ و، په داسې حال کې چې عرفاني مکتب په دغه لړۍ کې د (معترضه جملې) په بڼه ځای موند چې د فنا او د ژوند د سپکاوي وینا یې کوله. په هر حال، د اسلام له پیل څخه بیا د غزنویانو تر مهال پورې د پنځو پیړیو په ترڅ کې د دري ژبې قدر زیاتید او ډېر عربي لغتونه یې و منل او په نثر کې د ساده والي او ایجاز له پړاو څخه د تصنع، تکلف او بدیعه ځانګړنو خواته نژدې کیدله. ترڅو چې په پای کې د معنا د کمال په پرتله د اسلوبو جمال زیاته برخه ونیوله او خراساني سبك د عراقي سبك خواته ورغی او په ژبه کې کنایات، نوښت، تنوع، نوي ذوق، تازه تشبهاتو، نویو استعارو او بدیع لاره و مونده. دې سره یو ځای په دري ژبه کې عرفاني او فلسفي معنا ګانو او منطقي معانیو هم ځای ونیو او ژبه لا بډایه او پیاوړې شوه.

خو د افغانستان ددغې دورې هنر چې د پنځو پیړیو د بشپړتیا پایله وه او یو څه آثار یې د ناوړه تاریخي پېښو (لکه د جهانسوز نړولو، د چنګیز خان لوټ او یرغل او د تیمور تاړاکونو) له زغملو وروسته پاتې وو، ډېر لوړ ارزښت لرونکی دي، خو د معماري، انځور ګري، حجاري او فلز کاري ډېرې ښې بېلګې یې له منځه تللي دي. ډېر لږ آثار یې اوس له کنډوالو او نړول شویو ودانیو را برسیره شوي دي او د زرګونو کالو پخوا نیو شعري آثارو سره یو ځای زمونږ د هنر او ادب بڼه راښیي. ددغو آثارو په ډله کې دغه بېلګې د یادولو وړ دي: د بست نامتو تاق، د بامیان، غلغلې ښار، لښکر ګاه او د چشت د ودانیو پاتې شوني، د غزني ځلي، د دولت آباد ځلي، د جام منار، د هرات منار او جومات، یو شمیر حکاکي او توږل شوي مرمر، ګچ کاري، کیندل شوي لرګین انځورونه، کاشي ځلا لرونکی لوښي، د لشکري بازار انځورونه او د کابل د موزیم د فلزي وسایلو او لوښو، د خوني آثار. دا ټول د دولسمې پیړۍ تر پای

Scanned by CamScanner

پورې د افغانستان د فلز کارۍ، انځور ګرۍ، تیږې تورلو او معمارۍ د هنرونو ډېرې ښې بېلګې دي. په کودورو باندې پاتې هغه انځورونه چې د سامانیانو له دورې پاتې دي او هغه میناتوري اثار چې د عباسیانو له دورې را پاتې دي او بیلا بیل مسکوکات ټول په خپل خپل ځای همدا ارزښت لري. که چیرې شعري او تاریخي تذکرات په پام کې ونیول شي، نو د افغانستان د هغه مهال د موسیقي، چنګ، چغانه او ګډا ځرك هم ور ځخه ځرګندیدای شي داسې ویلای شو چې په افغانستان کې ظریفه او ښکلې صنایع لکه د مدنیت د نورو بېلګو په شان د دیارلسمې پیړۍ تر لومړیو پورې د پرمختګ په حال کې و، په لویو لویو ودانیو کې رواقونه، دریځې ګومبندې، پیل پایې او تاخونه جوړیدل. پیل پایو د ذوذنقې په درلوده، د لویو جوماتونو په غولي د مرمر ډبرې اور خام تیږې د مربع او مسدس په شکلونو او پخې خښتې په کار تلې، دیوالونو په ګچو ښکلې کیدل چې یا به په ګلانو او پاڼو یا هم په هندسي شکلونو ښکلې کیدل، په څنډو کې به یې په کوفي خط لیکنې کیدې کوتې به په کړ وړو ګلانو سینګار کیدې او د لاجوردو (لاجبرو) کرښې ور باندې ایستل کیدې. چوترې، څمکتلې، د اوبو حوضو ته، دالانونه او نورو په رنګ او انځورونو ښکلې کیدل د حرمسرایونو او انګړونو لپاره اوچت اوچت دیوالونه جوړیدل دغه دیوالونه به خام وو. له دې سره سره د افغانستان د ودانیو سبك له نورو اسلامي هېوادو سره توپیر درلود چې له نورو څخه یې اوچت دریخ درلود.

د بېلګې په توګه د غزنویانو په دوره کې چې له سلطنتي ماڼیو ووسته جوماتونو ته ډېره پاملرنه کیده او په ډېر پرتمین ډول به جوړیدل، په دې ډله کې یو هم د غزني جامع جومات و چې په هغو کې مسدس او مربع شکله تیږې په کار تلې چې په بیلا بیلو رنګونو او انځورونو به ښکلې کیدل. د جوماتونو غولي به درخام له ډبرو جوړیدل چې په زري ار لاجبري تیږو به سینګاریدل د جومات مقصوره کې دري زره درباري مرئیيان ځائیدل او څو څو هدیرې یې درلودې. له دې پرته هغه مدرسه چې له دغه جومات سره نښتې وه لوی کتابتون یې هم درلود. جوماتونه دومره لوی وو چې ځینې وخت به په زرګونو تنو پکې لمونځ کاو چې بیلا بېلې مقصورې او هدیرې به یې درلودې. هغه مهال اوچت اوچت خلې دالانونه او ګومبندې رواج وې. همدارنګه د هغه مهال په افغانستان کې انځورګرې پرمخ تللې وه او ګڼ شمیر ودانیو به په خپلو دیوالونو، چتونو باندې د ښځو او نارینه وو د ګډا انځورونه درلودل. ځینو ځایونو کې به د انسان د طبیعي لویوالي په اندازه د درباري مرئیيانو او رجالو انځورونه ایستل کیدل چې اوچتې خولۍ، موزې، له ګلانو ډك ملاوستنې او پټکی یې لرل. له دغو ټولو څخه ښکارې چې د هغه مهال په افغانستان کې په تیره بیا د غزنویانو پر مهال د انځور ګرۍ هنر خپل اوچت پړاو ته رسیدلی و او هنرمند انځور ګران په هېواد کې وو. د افغانستان د هغه مهال د فلزکارۍ صنعت هم پر مختللی او ښکلی و. د افغانستان موسیقي پرمختللې وه او د چنګ، رود، دف، تار، طبلې، شپیلۍ او دنبورې سازونه موجود و چې سندرې ویلو او ګډا عمومیت درلود او د دولت د پاملرنې وړ و. ښځینه او نارینه سندر غاړې او ګډا کوونکی په دربار، حرم او د لوړو مقاماتو په مجلسونو کې او هم د هېواد په ښارونو کې رواج درلود. د خلکو دغه بدیع ذوق سره له دې چې په دیارلسمه پیړۍ کې د چنګیز خان د یرغل له

Scanned by CamScanner

کبله ډېر کلك ګوزار لاندې راغی، خو بیخي مړ نه شو او بیا په څوارلسمه او شپاړسمه پېړۍ کې د هرات د میناتوري مدرسه جوړه شوه. له اسلام څخه مخکې افغانستان ځانګړې ښوونه او روزنه درلوده چې د ځانګړو ټولنیزو حالاتو زیږنده یعنی د مذهبي، سیاسي او اقتصادي اغېزو لاندې را منځته شوې وه. په افغانستان کې د زردشتي مذهب تعالیم د کرنې او مالداري او ښآري ژوند پر بنسټونو ولاړ وو، دوی د اهورا مزدا او اهریمن ترمنځ مجادلې یعنی رڼا او تیارې او خیر او شر څخه خبر وو. د خیر او شر ترمنځ جګړې خلکو ته د مبارزې روحیه ورکوله، په دې توګه ښوونې او روزنې او دغو تعالیمو د خلکو په شخصیت او اخلاقو اغېزه درلوده. دوی کار، فعالیت، ورزش او آس ځغلول په پاکي او خیر غوښتنې سره تائیدول او په جنت او دوزخ باندې یې عقیده درلوده. د هند، ایران، توران او یونان په شان د بېلا بېلو نورو ملتونو سیاسي، اقتصادي کلتوري، مذهبي او نظامي اغېزې هم د افغانستان په لرغوني ښوونه او روزنه باندې لیدل کېدی، دا څکه چې زمونږ هېواد د منځنۍ آسیا په څلور لارې باندې پروت و چې ځینې وخت به ددغو اغېزو نقش او رول متناقض او په ضدیت کې و. په اسلامي دوره کې په افغانستان کې ښوونه او روزنه نوې شوه چې اسلامي ښوونې او روزنې د پخوانۍ ښوونې او روزنې ځای ونیو، خو دغه ښوونه او روزنه په یوه عمومي چوکاټ کې لکه د کلتور په شان د دیانت تابع وه چې د وګړو افکار په هغې کې له تقلید، تقیید او اطاعت څخه نشو وتلای. له سیاسي او مذهبي موسسې څخه په پټو سترګو انقیاد حتمي خبره وه. همدارنګه په بې بدلونه او حتمي برخلیك باندې قناعت او عقیدې لرلو د ټولنې په روح ژوره اغېزه کړې وه. دغې طریقې په حقیقي روزنې سره چې هدف یې په فکر او نفس کې بدلون راوستل و، او د انسان په ختېه کې د شتو استعدادونو همغږې کول او سالمه وده وه تضاد او توپیر درلود، دا څکه چې دغه ډول ښونې او روزنې غوښتل چې خلك د سیاست په اړه د فکر کولو اجازه و نه لري او خلك خپله ځانته حق ور نه کړي چې د سیاست په اړه فکر وکړي، بلکې د سیاست او سیاسي چارو په هکله فکر کول او بوختیا د دولت د مشر آسماني حق و بولي. همدارنګه په قضایي چارو کې هم له خلکو څخه د تفکر حق اخیستل شوی و، ددې پر ځای یې په خلکو کې د رضا او تسلیم عقیده خپروله.

د خلکو د ښکلا خوښونې ذوق او بدیعي احساس ددغې ډول ښوونې او روزنې په اړانه کې بندي او ایسار کړل شوی و، دا څکه چې د شیانو ښکلا او بدرنګي ټوله فرمایشي وه اودغه فرمایش فقط د امر او نهی او حلال او حرام په واسطه تر سره کید. په دې توګه د تېرې تورږلو او ژوندیو شیانو انځور ګري، په تیره بیا د انسان انځورول منع شول، خو له نیکه مرغه د ونو - بوټو او نا ژوندیو شیانو د انځور مخه و نه نیول شوه او انځورونه او پژتوړل یې روغ پاتې شول. دغې ښوونې او روزنې ټولنیزه بیعدالتي اود ژوند ستونزې یوه تقدیري خبره بلله او ټولنه یې بې پولي رضایت او تسلیم ته اړ ایستله تر څو فقط د ګوري، ننداره چې اوسي او هیڅ شي کې لاس و نه وهي، خو ددې پر ځای یې اغېزمن او واکمن دریځ روحاني او اداري څواکونو ته ورکړي و. په دې توګه دغې ښوونې او روزنې چې بنسټ یې په کلکو او وچو دودونو او روحاني تلقیناتو ولاړ و، نشو کولای چې د اجتماعي او اقتصادي چاپېریال اغېزې چې ملت یې

Scanned by CamScanner

احاطه کړی و، را کمې او د هغو پر ځای بله خواکمنه اغېزه د خلکو په بر خلیك کې ور ګډه کړي.
د افغانستان د هغه مهال ښوونه او روزنه د دې لامل شوه چې د افغانستان خلك فقط په یوه ټکي او یوه حال کې ولاړ پاتې شي نو ځکه له ترقي پاتې شول. دا ځکه چې عمومي روزنه په عمل کې د اړتیا وو د پوره کولو لارې چارې وې او په نظري توګه د حلالو او حرامو، اخترونو او مذهبي دودونو پېژندل وو.
په هر حال: په افغانستان کې ښوونه او روزنه (القابي) وه چې د ویرې، ګواښلو او رټلو په بنسټ پرمخ وړل کېده، دغه ډول ښوونه او روزنه د کورنۍ، هتیوال، بازار، حرفوي خایونو، مدارسو، جوماتونو، خانقاوو، د وعظ په ټولنو، دربارونو او دولتي ادارو کې عملي کېده چې هم یې د اورولو ښه درلوده هم عملي او هم په نظري توګه ور ښودل کېده پلار به په کورنۍ کې، واعظ به په جومات او بازار کې، د کار لارښود استاد به په هټۍ کې، ښوونکی به په مدرسه کې، مرشد به په خانقا کې، دربار به اشرافو ته، د دولت ادارو به محاسب او منشي ته د ښوونې او روزنې محتوا او دنده تر سره کوله. خو توپیر دا و چې په مدرسه کور او هټۍ کې د اورولو په طریقه ښوونه ټوله د فرایضو او شرعي احکامو په ښه وه چې ور سره یې د لویانو او مشرانو د درناوي ښوونه هم کوله تر څو د روحانیونو او دولت اطاعت وشي او د ټولو پیښو په وړاندې د رضا او تسلیمي روحیه تلقین کړي او پیښې، د فقر، شتمنۍ، عزت او ذلت، عدل او ظلم توپیرونه حتمي و ګڼي او د ټولنیزو ناخوالو او بلاوو په وړاندې صبر او سکون حتمي و بولي او بیا به په آخرت کې هغه ټول جبران او تلافي شي. په هټۍ او کار ځای کې تربیت او روزنه عملي وه او زده کوونکی به پیشه او صنعت زده کاوه، دربار د اشرافو روزنځای و چې هلته به اداري اداب درباري تشریفات، معاشرت او رسمي کړه وړه ورښودل کېدل. همدارنګه په رسمي دفترونو کې به یو شمېر شاګردان د انشاء، محاسبي او دفتر داري په چارو کې روزل کېدل چې وروسته وروسته بیا همدوی د دولت په ادارو کې په کار ګومارل کېدل. حساب او د ښکلي خط زده کول، عربي او دري لیك د هغوی لپاره د لیاقت معیار و، خانقا هم یوه مهمه مدرسه وه چې مراد، مرشد او مرید یې له مذهبي تعصبو وچ زهد، عنعنوي رواجونو او قیدونو څخه خلاصول او وګړي ته یې د عقبدي درناوی او نیکی کول ور ښودل، خو دا ښوونه د تخیل او جذبې له لارې وه چې له عمل څخه لرې وه، نو دی په خپله د تخدیر او داډ یا تسلی ښه درلوده.

خو په جوماتونو او مدرسو کې نظري ښوونه او روزنه پر مخ وړل کېده، به لومړني او عمومي پړاو کې د دري ژبې لوستل او لیکل، د قرآن لوستل، عقاید او د حرامو او حلالو شرح موخه وه په بل دوهم پړاو کې، یعنی په لوړه زده کړه کې، تر هغو پورې چې کلتوري زوال نه و پیښ شوی، د ښوونې او روزنې په نصاب کې دري ژبه او ادب، عربي، منطق، حکمت الهی، فلسفه، طب، ریاضي او نجوم راتلل. لوړې زده کړې ټولې په عربي ژبه وې چې عقلي او نقلي علوم پکې راتلل، خو کله چې فقها وو او متعصبینو غلبه وموندله او د ګډو ګټو له مخې د دولت اقدام او د فقهاوو په ملاتړ د عقلي علومو (معقولې پوهې) مخه ونیول شوه، په مدرسو کې لوړې زده کړې او په جوماتونو کې لوست یواځې په ادبي علومو، شرعي علومو (فقه، حدیث، تفسیر او عقایدو) او څه نا څه طب او نجومو پورې را ایسار او نور علوم له

Scanned by CamScanner

منځه یووړل شول. د علومو ایسارول په عمومو طالبانو تطبیق کېدل خواص له دې امر څخه استثنا، ګڼل شول. دوی کولای شول چې مشخصاً د شرعي علومو په څنګ کې او له قصص، ادب او تاریخ سره یو ځای معقول علوم هم ولولي، خو د معقولاتو د اظهار حق یې نه درلود. همدارنګه د تحصیل لارې چارې یواځې په ښارونو او لویو کلیو پورې تړلې وې، دا ځکه چې اسلامي فرهنګ او تمدن لکه د هر بل لرغوني تمدن په شان، ښاري تمدن و او د هېواد لوړه پاړکې، ممتاز وګړي او مرفه طبقه ور څخه برخمنه وه. ټولنیزو حالاتو اقتصادي شرایطو او سیاسي مناسباتو یواځې او یواځې د ښوونې او روزنې لپاره زمینه ډېر لږ کسانو ته برابره کړې وه. ټولو خلکو زده کړه نشوه کولای. البته نظري تحصیلات ښځو ته په ښارونو کې هم ممکن نه و، دا ځکه چې د قیودو کلکوالي له حرم او کور څخه بهر د ښځو د آزاد فعالیت مخه نیوله. د ښځو حجاب دوی مدارسو او جوماتونو کې له ګډن کولو څخه منع کول، په دې توګه په ممتازو او مرفه طبقاتو کې با سواده ښځې هم وې. اشرافو له نظري زده کړو پرته د آس ځغلول، غشي ریشتل، ساندې اوچول، ښکار او د شطرنج لوبه هم زده کولای شوه.

د افغانستان د ښوونې او روزنې پایله د یوې صبرناکې، قانع او کار کوونکې توکلي ټولنې رامنځته کېدل و چې د روحانیونو او دولت د واك په اصالت یې عقیده لرله او هم یې ټولې پیښې حتمي او ازلي بللې. دغه ډول روحیه د چنګیزخان له یرغل څخه وروسته نوره هم کلکه شوه او تر اوسه پورې پاتې ده. په دې توګه په یوه ټکې باندې دریدل د ترقي د مخنیوي لامل شوی. نو ځکه هېواد له پرمختګ څخه محروم شوی دی.

په افغانستان کې د ښوونې او روزنې دغه تګلاره زیاتره د حاکمه طبقې د ګټې د ساتلو په خاطر وه تر څو مرکزي دولت نور هم مرکزیت و مومي. دوی د بهرنیو یرغلونو او کورنیو پاڅونونو د مخنیوي په خاطر مرکزیت ښه سیاست باله، په تیره بیا غزنوي دولت د مرکزیت لپاره د دولت د ځواك اصالت په عملي توګه د خلکو په ذهن او تفکر کې بې له هر ډول قید او شرط څخه ځای پر ځای کاو، د بېلګې په توګه کله چې غزنوي سلطان محمود د ملتان په حربي سفر بوخت و. او د هېواد له پلازمینې څخه لرې تللی و افراسیابي ایلك خان، د ماورالنهر او ساماني دلت ځای ناستی له پنځوس زره عسکرو سره په هرات او بلخ باندې یرغل وکړ هرات تسلیم شو، خو د بلخ جنګیالیو خلکو دفاع وکړه چې وروسته تر وینو تویېدو او جګړې څخه ښار د دښمن لاس ته ورغی او ګڼ شمیر ودانۍ یې ونړېدې، محمود چې را وګرځید دښمن یې په ځواکمن لښکر سره و ځغلاو او د بلخ زړورو خلکو باندې په غوسه شو چې ولې یې لکه د هرات په شان ځان دښمن ته تسلیم نه کړ او ولې یې توري ته لاس کړی، دا ځکه چې جګړه د دولت او لښکر دنده ده، نه د رعیت دنده. بیا یې امر وکړ چې د نړېدلو ودانیو بیارغول دې همدوی په اوږه واخلي. دغه ډول آموزش او روش د افغانستان د زړورو خلکو د خپلواکي د روح را څرګندېدو ته موقع نه ورکوله. خو کله به که اسلامي شریعت د خپلواکی او ماتې نه خوړولو روحیه جایزه و بلله نو بیا اجازه وه، چې هغه د غیر مسلمان په وړاندې وه. د بېلګې په توګه کله چې په دیارلسمه پیړۍ کې د چنګیز خان د یرغل پر مهال د افغانستان د خلکو دغه ځانګړنه ښه و ځلیده، په داسې حال کې چې دولتي ځواك له

Scanned by CamScanner

منځه تللی و، په ټول هېواد کې خلك را پاڅېدل او خپلې وينې يې د هېواد او دين د ساتنې لپاره لګه اوبه وبهولې. د دښمن د لوی ځواك په وړاندې د افغانستان خلکو مقاومت او زورورتوب لکه د يوې ستړې ونې په شان و چې که لوی توپان يې رېښې نه وای ايستلی، له هغې څخه تېرېدل نا ممکن و. په داسې حال کې چې نور سست ملتونه د چنګيز په واندې لکه د کوچنې نيالګی په شان ډېر ژر کاږه شول او توپان ور څخه تېر شو او له رېښې څخه و نه وتل. نو بيا يې سرونه هسك کړل او وده يې وکړه.

له چنګيز خان څخه اوه سوه کاله وروسته يو ځل بيا افغانان له همدې ډول ازمايښت سره مخامخ شول او هغه په افغانستان باندې د انګرېزانو يرغل و. په دغه ځل هم افغانانو (چې دولت له منځه تللی او تسليم شوی و) د هېواد او دين د ساتنې په خاطر پاڅون وکړ او درې ځله يې دغه لوېه او ځواکمنه امپراتوري له خپل هېواد څخه وشړله. د افغانستان د خلکو دغې ځانګړتيا ته بهرنی ښکيلاك د (مذهبي ليونتوب) نوم ورکړ. همدارنګه په کورنيو اړ دوړ او د مسلمانو ملتونو په وړاندې د پاڅونونو په هکله د اصل شرع فتوا ډېره مهمه بلل کېده. خو بيا هم ځينې وختونه په خلکو کې چاودېدونکی حالت هغه وخت را منځته کيد، چې د مذهبي فعاليت او مانع سره سره د عاصي قوت په توګه چاودېده. په هر حال، د افغانستان نظري ښوونې او روزنې، په تېره بيا په ښارونو او لويو مدرسو کې د تعليماتو پر مخ بيول د هغه مهال د علماوو له خوا پرمخ بيول کېدل چې په ښارونو کې به دغه ډول مدارسو د مسافرو زده کوونکو لپاره ليليه او موقوفات درلودل او د بېلا بېلو ډلو د تحصيل لپاره قانون هيڅ ډول خند نه رامنځته کاو. د تعليم همدا آزادي وه چې د پنځو پېړيو په ترڅ کې زيات شمير علما پيدا شول او اوچت استعدادونه يې وځلول، دا په داسې حال کې چې د منځنيو پېړيو په اروپا کې سواد يواځې کليسا پورې تړلی و، آن دا چې زيات شمير مخورو، اشرافو او نجباوو هم سواد نه درلود. په دولسمه او ديارلسمه پېړۍ کې د اروپا فيوډالانو پرته له جنګي بوختياوو بله بوختيا نه درلوده او د سواد فرهنګ ته يې هيڅ ارزښت نه ورکاو. سره له دې چې په يوولسمه پېړۍ کې حماسي ادب او ښاري سواد نوی رامنځته شوی و، خو عام شوی نه و. يواځې په منځنيو پېړيو کې د لرغوني بيزانس او د بالکان د ټاپو وزمو په سيمو کې او په کوچنۍ آسيا، سُوريه، فلسطين، مصر او د مديترانې ختيزو ټاپوټګانو کې سواد لږ څه پر مختللی و. لويديزو اسلاويانو په نهه پېړۍ کې او روسانو په لسمه پېړۍ کې مسيحي دين و مانه او د الفبې او سواد لرونکي شول. د ختيځ اسلامي او د هغه مهال د اروپا د ژوند ترمنځ همدا توپير و چې د هغه مهال د اروپا د فيوډالانو حرص يې را وپاراو او د ختيځ تجمل او پرتم ته يې سترګې شوې ترڅو چې دوی صليبي جنګونه پيل کړل. دغو جګړو دوه سوه کاله دوام و موند. سره له دې چې اروپا پرته له وژنې، لوټ کولو او د قسطنطينې او انطاکيه د ښارونو له نړولو او غلا کولو څخه بله ګټه تر لاسه نه کړه، خو له اسلامي تمدن او فرهنګ سره آشنا شوه او دا اشنا کېدل په راتلونکی کې په اروپا کې د يوه نوي غورځنګ د پيل کېدو لپاره يوه وسيله شوه. په هر حال؛ په افغانستان کې ښوونې او روزنې د لرغوني يونان د ښوونې او ورزنې له اصولو سره توپير درلود. ددې معنا داده چې په لرغوني يونان کې يې تر ډېره بريده د وګړي د لوړتيا غوښتنې روح پياوړې کاو خو په افغانستان کې اسلامي ښوونې او روزنې وګړی

د ټولنې تابع باله، چې سیاسي او روحاني موسسات (آسماني سیوري) بلل کیدل: په ړندو سترګو ورګړي اطاعت د هغه آزادي او خپلواکی له منځه وړله. په افغانستان کې دغې ډول ښوونې او روزنې د خلکو په تفکر ډیره ژوره اغیزه درلوده چې ورو ورو خلك ور سره بلد شوي وو، د تفکر دغه ډول طرز چې په پیل کې د اشعریه طریقه کې رواج شو، ورو ورو یې د جبریه طریقې په بڼه وده و مونده نو ځکه یې ټولې تولنیزې پیښې (فقر، لوږه، ظلم، مرض کاختي، ماتې او نور) له تقدیر څخه بلل او ګڼې یې په هغو محکوم باله او دا ورته په قسمت کې لیکل شوي ښودل کیدل، د یو لږ شمیر خلکو شتمنی، جاه، جلال او باداري خدا ورکړی ښودل کیده او فقر بیوزلې او محرومیت د (عمل شامت) او پایله وه او په بیوزلی اخته وګړی خدای وهلی بلل کید. دې عقیدې دا غوښتنه کوله چې باید خلك د ظلم او هرې بېعدالتي په وړاندې فقط کتونکی وې او د استبداد په وړاندې صبر کوونکی اوسي او د هر ډول بد مرغي و فلاکت په وړاندې شاکر او راضي وي، همدا لامل و چې ظالمانو، څواکمنو او حاکمانو په پوره ډاډ، زړورتیا او غرور سره په خپلواك ډول عمل کاو او په استبداد کې یې آزادانه پرمختګ کاو، خو خلك یې شکر، صبر، رضا، قناعت او موجودې وضع سره جوړ جاړي ته بلل او خلك یې په جامد حالت کې په چوپه خوله میخ کوب ساتل او اوس یې هم ساتي.

له بلې خوا په هغه مهال خلکو له بیوزلي او فقر سره سره په ژوند کې له نظافت سره مینه درلوده او غسل او پاکي یې ساتله، په غم او خوښې، خیر او شر کې یو بل سره شریك وو او په ډله ییزه توګه یې یو بل سره مرستې کولی، څوانمردي او احسان پیژندنه یې له اتلولي او اتل پالنې سره یو ځای عادت او ځانګړتیاوه. سره له دې چې بیسواده وو خو علماوو او پوهانو ته یې ډیر درناوی درلود.

## فرهنګي زوال

د افغانستان د فرهنګي زوال پیلامه لکه یو شمیر نورو اسلامي هېوادو په شان له یوولسمې میلادې پیړۍ را په دې خوا را روانه وه او تر دولسمې پیړۍ پورې د فقهاو او متعصبینو صفونو د درې سره کالو فکري جګړې په ترڅ کې یې معقول او فلسفي عقاید د غزنوي، سلجوقي او خوارزمي نو یو اسلامي دولتونو او پخوانیو پووندو ډلو په ملاتړ له منځه وړل او دغو دولتونو له تاو تریخوالي او مذهبې تعصب سره یو ځای د پخوانیو دولتونو هغه پراخ نظر نه درلود کوم چې پخوانیو دولتونو د فلسفې او عقلي پوهنو په هکله درلود، نو ځکه دوی د فقها وو، اشعریانو او متعصبینو ملاتړ تر لاسه کړ او هغوی یې ځان سره یو کړل او د هغوی جنګي سنګر یې د عقل او منطق په وړاندې پیاوړي کړ. همدا لامل و چې عقلي علوم او علما له کلکو پر له پسې ګوزارونو لاندې راغلل او فلسفه او علوم لکه ریاضي، طبیعي علوم او ستوري پیژندنه او کیمیا ټول د اسلامي شریعت په ضد و بلل شول. نو په دې توګه علوم او فلسفه د (علم تعطیل) تر نامه لاندې مشهور او د کرکې وړ و ګرځیدل، صرف د ریاضي او طب ځینې برخې هغه هم د لوړو طبقو اړتیا له مخې و منل شولې. په دې توګه د افغانستان مدارس ورو ورو د فلسفې او عقلي علومو له تدریس څخه بې برخې شوي ترڅو چې پرته له شرعي علومو او ادبي

Scanned by CamScanner

علومو او تر یوه حد پرته له طب، ریاضي او نجوم څخه نور څه پاتې نه شول. د هېواد فلاسفه او د عقلي علومو پوهان زیاتر په کفر تورن شول او ملحو زندیقي و بلل شول. د متکلمینو، معتزله، قرمط او اسمعیلیانو فرقې یو په بل پسې تر دولسمې پېړۍ پورې له ډګر څخه وایستل شوې او په علمي او تولنیزه برخه کې یې خای تش شو. همدا وضعیت په ایران او ماورالنهر کې هم روان و. حال دا چې په بین النهرین کې له افغانستان څخه کلونه کلونه مخکې دغه علمي ارتجاع را پیدا شوې وه. آن دا چې په یو شمیر اسلامي هېوادو کې صوفیان او عارفان هم لکه د فلاسفه وو او د عقلي علومو پوهانو په شان د دښمني ور ګرخیدلي وو او د متعصبو او فقهاوو له خوا یرغل ور باندې کید.

په دې توګه په افغانستان کې فلسفه مخ په نابودي لاړه او له مخکنۍ دریځ څخه کښته وغورځیده او آزادي چې د فلسفې د ودې لپاره یو شرط و، نوره په متحجر او مستبدو دولتونو کې نه وه، آن دا چې فلسفه د دین او دولت لپاره ګواښ او خطر و بلل شوه چې همدا د هېواد د فرهنګي زوال غټ دلیل و. کوم برهان چې وروسته تر دې را پیدا شول کار یې یواخې د پخوانیو کتابونو را نقلول و او په پخوانیو آثارو باندې د حاشیو او شرح لیکلو دوران را ورسید، نوښت تول له منځه ولاړ. کلام لکه فقه په خپل خای پاتې شو خو کاواکه و، فقهې هم فقط د تقلید بڼه درلوده. عرفان او تصوف لکه د کلام په شان کاواکه دریځ درلود تر څو چې بیخي د یوه منفي عرفان خواته ولاړ. ژوندي او هڅوونکی شعر هم خپل خای مړه، ستومانه کوونکی او ستایوال پیچلي شعر ته ورکړ. البته منطق د شریعت د احکامو سره سم په خپل حال پاتې شو، خو نور نو طبیعي منطق او جر و بحث ته خای په هغه کې نه و او فلسفې بڼه یې له منځه ولاړه او اخلاقو ته ډیره پاملرنه کیده.

Scanned by CamScanner

# نهم څپرکی

## د مغلو یرغل او د افغانستان د خلکو پاڅون او مبارزه
(دیارلسمه میلاد پېړۍ)

## لومړی
## د چنګیز خان ټکه

### مغل

مغلو په مغلستان کې کوچنده ژوند درلود چې په څو څو طایفو ویشل شوي وو. په دغو طایفو کې ډېرې نامتو یې تاتار، قنقرات، اویرات، ارلاډ، جلایر، کرائیت او نایمن وو. د مغلو یوه بله کوچنۍ طایفه (بور جیقین) وه چې په ټغې کې د چنګیز خان په رامنځته کېدو سره ډېره مشهوره شوه. مغلي طایفو لکه د ختیز د تورکانو په شان، چې له چین سره په ګاونډیتوب کې وې، تر ډېره حده پخواني مدنیت پورې څان تړلی و، حال دا چې لویدیز ترکانو ډېر ژر اسلام و مانه او آن د اسلام د مدافع په توګه یې عربي نړۍ او بحرالرومي ته کتل. د چین، افغانستان، هندوستان، ماورالنهر او ایران یعنی شرق او غرب ترمنځ د سوداګریزې لارې هم له ترك او مغلو سیمو څخه تیریدلې. نو د اسلامي هېوادو او چین د شمتني او تجمل مطالعې په دغو هېوادو باندې د ترك او مغلو د یرغل لار هواره کړه. په هغه مهال کې د مغلو ښارونه هغه کېږدۍ وې چې د فصلونو په بدلیدو سره به له یوې سیمې څخه بلې ته وړل کیدې او یو پوونده ژوند یې درلود. د مغلو کډه په سر طوایفو د چنګیزخان تر را څرګندیدو پورې په ښکار کې بوختیا لرله او له ترکانو او د ختن له خلکو سره یې د پوستکو راکړه ورکړه تر سره کوله، جامې یې پوستکي او خوراك یې د ساراي ژویو غوښه او شیدې- مستې او خیدك و. دا څکه چې دوی کرنه نه لرله، بلکې د څاروي روزونکو قبایلو په بڼه یې د بیلا بیلو قبایلي مشرانو تر مشرتوب لاندې په تیت او پرك ډول ژوند کاو. د طایفو مشر د ټول تجمل له اسبابو څخه یواځې د آس لپاره د وسپنې رکاب درلود، خو اشرافي قشر د زرګونو څارویو په لرلو سره د خپلو شپنو او کډه په سر خلکو په منځ کې د اوچتې کچې ژوند درلود. دوی په جادو ګرۍ، کوډو او خرافاتو باندې عقیده درلوده. په ژمي او اوړي کې یې څانونه په روانو اوبو نه لمدول او څاروي یې نه حلالول بلکې هغه یې په ټټر باندې سوري کول. سره زر

یې پیژندل خو د سرو او سپینو زرو په لوښو کې یې اوبه نه څښلې، خانونه یې نه مینځل او مینځل شوی جامې یې څکه بهر نه هوارولې چې د دوی په ګومان تالنده او برېښنا ډېرېږي. هغه کور باندې به چې تندر لویدلی و هغه به یې د درې کلونو لپاره له خپل قوم څخه شاړه دا څکه چې هغه د خان په لښکر کې ځای و نه نیسي. د مغلو آس څغلوونکی او د هغوی آسونه په لوړه او تنده کې ښه کلك وو او په اوږدو مزلونو کې ډېر تکړه وو. دوی مجرم ته ډېره کلکه سزا ورکوله.

په مغلو کې واده محدود نه و، په تیره بیا لویو لویو خانانو څو ودونه هم کولای شول. چنګیز خان څخه له مړینې وروسته پنځه سوه ښځې میراث پاتې شوی چې له نورې شتمنۍ سره یو ځای یې د هغه ځای ناستي خوی ته ورسیدې. مغل لکه د ترکانو په شان تکړه آس څغلوونکی وو. د دوی لنډو او اوږدو لیندیو تر ۳۰۰-۴۰۰ مترو پورې واټن ویشتلای شو. د هغوی زیاتره وسله یو اړخ لرونکی توره او چاړه وه. اور غورځوونکی منجنیقونه چې په څلور بولو لیږدول کیدل د دوی تر ټولو لویه وسله وه. د چین په شمال کې ختای پاچایانو له دوی څخه باج اخیست په هر حال: د مانچو، مغل او ترکو قبایلو شمالي آسیا او مرکزي آسیا خپلو منځو کې ویشلې وه. تاتار او قنقرات قبایل د «ارګون» د سیند ښۍ غاړې ته اوسیدل. د برجیقین قبیلي «چنګیز له همدې قبیلې څخه و»، د «کرولن» او «اونون» د سیندونو ترمنځ ژوند کاو. د «انګووا» د سواحلو غاړې ته څلور ګونې او د یوه نژاد قبایلو «نیجي، قوت، جویارات، ارلأت او جلایرو» ژوند کاو «دغې وروستی قبیلې د ترکو وینه هم درلوده». د بایکل په ختیزو غاړو کې د «مرګوت» طایفه اوسیدله چې له مغلو او مانچو قبایلو څخه په ګډه را منځته شوې وه او په لویدیزو غاړو کې یې د الوت مغل اوسیدل. د بایکل جنوب ته د کنتی له غرونو څخه د چین تر دیوال پورې د «کریت» دولت و چې دا د نورو ټولو قبایلو په پرتله ډېر څواکمن دولت و، خو د دین له پلوه د نورو قبایلو سر چپه د عیسویت په دین ګروهمن و. د «نایمن» قبیلې د بر اورخون او لوی التایي ترمنځ ژوند کاو چې عیسوي نسطوري مذهب یې درلود. د نایمن د قوم جنوب لویدیځ ته او یغور ترکان اوسیدل. او یغور ترکان په اتمه پیړۍ کې د قراقروم له غرونو څخه ختیځ ترکستان ته مهاجر شوي وو او هغه ځایونه یې د تخار له قبیلو څخه ونیول او خپل څانګړې دولت یې پکې جوړ کړی و. له دې امله چې د افغانستان، چین او ماورالنهر د سوداګریزو لارو په سر پراته وو. دوی ډېر ژر د سیمې د خلکو د ژوند او تمدن تر اغیزې لاندې راغلل او هم یې له زردشتي دین، هم عیسوي، هم بودایي او مانوي دینونو له مبلغینو څخه عقاید واخیستل. ډېره مهمه خبره دا وه چې سریاني خط یې غوره کړ.

یغور قبایل د ماني مذهب پیروان وو، وروسته بودایان او یو څه نور مسیحیان شول. کله چې دوی سریاني الفبي و منله د مغلو او ترکو د تمدن په سر کې و دریدل. دوی او د قرلق طایفې چې د قارم د سیند د کوزې برخې تر غاړو ژوند کاو، د چنګیز خان د یرغل پر مهال دواړه د سیاسي اعتبار څخه بې برخې او د کاشغرستان د قراختایي حکومت تابع شول. دا هماغه یو څواکمن حکومت و چې د دولسمې پیړۍ په لومړیو کې جوړ او د دیارلسمې پیړۍ تر پیل پورې پر ځای و چې د ټولو ختیځ ترکستان او لویدیځ ترکستان قبایلو قراختایي پاچا «ګورخان» د خپل شهنشاه په توګه پیژندلی او منلي و.

Scanned by CamScanner

ددغـه دولـت پلازمېنـه پـه کاشغرسـتان کـې بلاساغون و. د کاشغرسـتان خلك ځينې مسلمان، نوربت نمانځونکی او نور يې تر ساوو خو د خوارزمشاهي دولت طوطئي، د کورخان د زوم نايمن کوچلوك خان خيانـت او پـه خپلـه د قراختـايي دولـت دننـه ضـعف د قراختائيـانو دولـت مـخ پـه ځـوړ بـوت او ځای يې کوچلوك ونيو ترڅو چې د چنګيزخان له يرغل سره مخامخ شو.

همدارنګه په دولسمه پېړۍ کې کله چې چنګيز خان واك ته ورسيد، د چين ډير پراخ هېواد د دوو سيالو حکومتونو ترمنځ وويشـل شـو. شـمالي چـين مـانچو قـوم پـورې تړلـی و چـې پلازمېنـه يـې پيکنګ و. له پيـنکنګ څخه ترکايفو نګ پورې (کن) حکومت چليده چې د سرو زرو پاچايـان نومېـدل. پـه جنوبي چين کـې د سـونك د کـورنۍ چينـايي شهنشـاهي واکمنـه وه چـې پلازمېنـه يـې د کولسـي ښـارو ددغـو دوو حکومتونو لويديځ ته تبتي او تانګوت ډلې اوسيدلې.

خو په نژدې اومنځنۍ آسيا کې د چنګيز د واکمـن کيـدو پـر مهـال اسـلامي هېـوادونـه پـه لانـدې ډول وو: مـاورالنهر، ايران او افغانسـتان د خـوارزم د ځـواکمنی اميراتـوري لرونکـی وو چـې د اسـتبداد تـر فشـار لاندې يې يو ناراضه ژوند درلود. له سند څخه پورې غاړه او ملتان څخه هاخوا غوري ناصر الدين قباچه پاچا و، په منځنۍ هند کې غوري سلطان شمس الدين التمش د خپلواك دولت پـه سر کـې و چـې يـواځې خپل قلمرو پورې ايسار او لـه نـورو اسـلامي هېـوادو څخـه جلا وو. کـوچنۍ آسـيا يـو لرغـونی سلجوقي دولت درلود چې د هغـه ځـای پاچايـان زيـاتره ارووپائيـانو سـره پـه صـليبي جګړو اختـه وو. د مصـر او شـام هېوادونه د ايوبي شاهانو او شهزاده ګانو په واك کې وو چې له خپلو کورنيو بې اتفاقيو سره يو ځای لکه د سلجوقي پاچاهانو په شان د اروپايي هېوادو له صليبي جګړې سره مخامخ وو.

د منځنۍ اروپا سياسي، مذهبي، اقتصادي او ټولنيز وضعيت تر يوولسمې پيړۍ پورې په داسې بڼه و چې سوداګرو د ګټې په خاطر، اشرافو او فيوډالانو د شتمني او ځمکو د ترلاسـه کولـو پـه خاطر او وړی او ټکول شوی بزګر له سينور څخه د خلاصون او د يوی مړی ډوډۍ د پيدا کولـو پـه خـاطر ټولو ختيځ ته سترګې نيولی وی، ددې ټولو په سر کې کليسا وه. دوی له مسلمانانو څخه د اوريشليم لـه خلاصـولو پـه بهانه جګړې کولې نو دوهم پاپ اوريان په ۱۰۹۵ کې د فرانسې پـه کلرمونت کـې د روحانيونو فيوډالانو او بزګرانو پـه يوه غونډه کې وينا وکړه او ټول يې لـه مسـلمانانو څخـه د اوريشـليم د خلاصـولو لپاره هڅول او جنګ ته يې ولمسول او دا يې هم ورته وويل چې زيات شمير غنميتونه بـه يـې پـه برخـه شي او هغه بزګر به چې په دغه (سپيڅلي) جګړه کې ګډون وکړي، نو خپله آزادي به تر لاسه کړي. همدارنګه پاپ ټولو اسقفانو ته دنده ورکړه چې د صليبي جګړې تبليغ وکړی. په دې توګه بيوزلـه بزګران پـه داسې حال کې چې پـه ريښتيا نـه پوهيدل چې اوريشليم چيرته دې، پـه ډير کړاو تر قسطنطينې پورې او له هغه ځايه تر کوچنۍ آسيا پورې ورسيدل، خو ترکانو کلکه ماته ورکړه او بيرته قسطنطينې ته پـه شا شول. له هغه څخه وروسته د اروپا د شواليه ګانو لښکر د سـمندرونو او وچې لـه لارې پـه ۱۰۹۷ کې قسطنطينې ته ورسيدل او له هغه ځايه بيا کوچنۍ آسيا ته ولاړل، سره له دې چې دوی ډير تلفات ورکړل، خو بيا يې هم د انطاکيه ښار ونيو چې هلته يې د ټولو مسلمانانو سرونه پرې کړل. هغوی په ۱۰۹۹ کې اوريشليم ونيو

Scanned by CamScanner

او د هغه نارینه او ښځینه مسلمانان یې له ماشومانو سره په ډله ییزه توګه ووژل. له هغه وروسته یې د اوریشلیم حکومت جوړ او له شوالیه ګانو څخه یې یو تن هلته پاچا کړ. د اروپا فیوډالي نظام چې د بزګرانو په څېبنلو او د هغو د سرف (مریې) کولو پر بنسټ ولاړ و، هم له دې پاچاهي سره یو ځای پرمخ بوتلل شو. دوی له مسلمانانو څخه د دفاع په خاطر جنګي کلاوې جوړې کړې او بیلا بیلې نظامي ډلې یې را منځته کړې، دا مهال د اروپا په تیره بیا د ایټالیا سوداګري هم له ختیځ هېوادو سره ښه شوه. مسلمانانو ددغو نا بللو او دعوا لرونکو میلمنو د شړلو لپاره را پاڅېدل او ترکانو په ۱۱۴۴ کې له لاسه تلی (ایدس) بیرته ونیو. اروپائیانو د خپلو سنګرونو د کلکولو لپاره د دولسمې پیړۍ په نیمایي کې دوهمه صلیبي جګړه پیل کړه خو کوم بری یې تر لاسه نه کړه، خو پر ځای یې سلطان صلاح الدین ایوبي د سوریې، مصر او شمالي بین النهرین اسلامي حکومتونه تر خپلې جنډې لاندې سره یو کړل او د یرغلګرو صلیبیانو په وړاندې یې سوق کړل. ایوبي په ۱۱۸۷ کې د اروپا شوالیه ګان مات کړل او اوریشلیم یې فتح کړ او د هغه ځای صلیبي پاچا یې بندي کړ. اروپا دریېمې جګړې ته ځان چمتو کړ، د آلمان امپراتور لومړی فریدریک، د فرانسې پاچا دوهم فلیپ او د انګریزانو پاچا لومړی ریچارد دیو لوی لښکر سره یو ځای مخ په ختیځ راغلل، خو فریدریک په یو سیند کې ډوب شو، د فرانسې او انګلستان پاچایانو وروسته تر دوو کلونو کلابندۍ څخه د عکا ښار ونیو او بیرته اروپا ته ستانه شول، خو اوریشلیم د مسلمانانو په واک کې پاتې شو، په دې وخت کې په سوریه او فلسطین کې د اروپایانو واکمني سسته شوه. د دیارلسمې پیړۍ په پیل کې، اروپا څلورمې صلیبي جګړې ته ملا وتړله، خو دا ځل یې د اوریشلیم پر ځای په قسطنطنیه یرغل وکړ چې په ۱۲۰۴ کې یې دغه ښار ونیو، ټول یې لوټ او ویجاړ کړ او خلك یې ور ووژل. په دې توګه د بیزانس د یوناني امپراتوري پر ځای د لاتین امپراتوري ټینګه شوه. د بیزانس واکمن په بالقان او کوچنۍ آسیا کې پاتې شول. خو خلکو د نوی امپراتورۍ له چلند څخه کرکه درلوده. بیزانسیان بیرته څواکمن شول چې په ۱۲۶۱ کې یې په قسطنطنیه باندې یرغل وکړ. او ویې نیوله او د بیزانس د خلکو امپراتوري بیرته ژوندۍ شوه خو پیښې شوې ویجاړتیاوې هیڅکله د بیارغاونې وړ نه دي. په فرانسه او آلمان کې داسې ویل کېدل چې د سپېڅلو ځایونو نیول د ګنهکارو خلکو کار نه دی، بلکې معصوم او پاك ماشومان کولای شي دا کار وکړي. نو په فرانسه او آلمان کې یې د ماشومانو یو لښکر جوړ کړ او د فلسطین په نیت یې سمندر ته لاهو کړل، دغه بې ګناه لښکر د مدیترانې د سیند په توپان کې څه ډوب شول او نور په مصر کې د بیږیو د خاوندانو له خوا د مرئیانو په توګه و پلورل شول. یو شمیر نور چې د ایټالیا جنوب کې د فلسطین پر ځای خپلو هېوادو ته ستانه شول په لاره کې مړه شول. خو بیا هم صلیبي جنګونه همدلته پای ته و نه رسیدل او په دیارلسمه پیړۍ کې یو شمیر نور جنګونه پیښ شول چې تر ټولو نامتو جګړه په ۱۲۷۰ کې اتمه صلیبي جګړه وه. له دې ټولو سره سره صلیبیانو له دغو لوټ کوونکو جګړو څخه وروسته تر دوه سوه کلونو هم څه تر لاسه نه کړل، پرته له قبرس څخه نور کوم ځای یې و نه نیو، خو له اقتصادي پلوه اروپا ته ګټور ثابت شو، دا ځکه چې له ختیځ سره د فرانسې او ایټالیې سوداګري ډیره ښه شوه د صلیبي جنګونو یوه بله مهمه پایله

Scanned by CamScanner

ارو پاته دا هم وه چې د ختیځ له کرنې او نویو کرنیزو محصولاتو سره آشنا شول. له دې څخه وروسته په اروپا کې د وریښمو اوبدل ښیښه جوړول هم دود شول او د ختیځو اسلامي هېوادو له کلتور او تمدن سره د اروپا پېژندنه او آشنا کېدل د هغوی د فکري ودې لامل شو.

## چنګیز خان

هغه یو عجیب سړی و چې په حیرانوونکی ذکاوت سره یې د توری او سیاست په سیوري کې د تورانیانو نړۍ خپل ویروونکی توغ لاندې را ټوله کړی وه. دغه لوړ او پیاوړي سړی چې پراخه تنده او اوږده ږیره یې درلوده بیسواده و، پرته د خپلې قبیلي له ژبې څخه په بله ژبه نه پوهید، په خدای یې عقیده وه او د سوځیدلې ږمنځ په فال یې پا بندي درلوده. هغه به له کومې خطرناکې او لویې پیښې مخکې یو ګوښه ځای ته ته او هلته به یې غاړه کې رسۍ اچوله او معبود ته به یې په عبادت پیل وکړ او د خپلو هیلو لپاره به یې دعا کوله او د معبود د رحم غوښتنه به یې کوله. هغه یو پوخ جاه طلب او د امر چلولو کلك لیوال و. هغه هرڅه خپل ځان او خپلې کورنۍ ته او وروسته له هغه یې په دوهم ګام کې مغلستان ته غوښتل چنګیز غوښتل چې په نړۍ کې له ځان څخه یو لوی نوم پریږدي، نو ددې هیلې لپاره یې د خلکو وژلو د هېوادونو د نړولو او لوټولو لاره غوره کړه. چنګیز خان د خپلې کورنۍ د راتلونکي په هکله داسې ویل داسې ورځ به را ورسیږي چې زما اولادونه به ښکلی ښځې ولري او نازکې او ښکلې جامې به اغوندي او خوندور خواړه به خوري او تر ټولو څخه په ښو آسونو به سپریږي. خو آیا دوی به و پوهیږي چې دا هرڅه چا ورکړل؟ همدارنګه ده یوه ورځ په مرغاب کې په خپل یوه عسکر کوټ کې یوه افغاني بندي قاضي (قاضي وحید الدین فوشنجي ته د خپل نوم د تلپاتې والي په هکله ویلي و: د هغو وژنو له امله چې ما د محمد اوغری (غله) (سلطان محمد خوارزمشاه) په سیمو کې کړي، له ما څخه به یو عجیب نوم پاتې شي، قاضي ځان مرګ ته وسپاره ورته ویې ویل: کله چې خان ټول خلك وژني نو نوم به په چا کې پاتې شي؟ چنګیز خان د مغلستان لپاره دا هیله درلوده چې د شپږمې پیړۍ تورکیو ډلې د امپراتوری پړتم (یعنی د ایل خان توقان او دوبو خان) دوران بیرته ژوندی کړي، هغه ځواك چې یو مهال په ټوله نیمه آسیا واکمن و. همدا لامل و چې قراقروم یې د منګولیا په طبیعي مرکز کې خپله پلازمېنه و ګرځوله او دا د شپږمې پیړۍ د لوی ترکي خان قان پلازمېنه وه چې بیا په اتمه پیړۍ کې د اویغور د لوی خاقان پلازمېنه هم شوه چې وروسته بیا هلته د کول تکین او مکوبین خان د وختونو لرغوني او تاریخي ډبرلیکونه هم و سپړل شول. د قراقروم ښارته د افغانستان او ماوراالنهر لویو ښارونو تر نړولو وروسته له دغو ښارونو څخه صنعت کاران ور ولیږل شول. او یو څه هم هلته چینایان میشت شول او مغل د منځنۍ آسیا په زیرمو سره په مغلستان کې ښه پوره شتمن شول، آن دا چې د دوی د هر شتمن مغل سوداګریز معاملات او راکړی ورکړې په یو ځل له ۳۰ څخه تر ۵۰ زرو بالښتو (خورجین ډوله جوړښت) پورې رسیده. د افغانستان د یوه لوی تاریخ لیکونکی عطا ملك جویني له خولې چې هر بالښت کې د مغلو پر مهال پنځه سوه مثقاله سره او سپین زر ځاییدل چې هر دغه جوړښت په ۷۵ رکنی دینارو باندې پلورل

Scanned by CamScanner

کیدل چې عیار یې څلور دانګه وه.
د چنګیز خان د زوي اوګتاي خان پر مهال په قراقروم کې ونې کینول او کرنه هم دود شوه او د قراقروم شتمني دومره حد ته ورسیدله چې د اوګتاي دکاختي پر مهال یو من غله د سرو زرو په یو دینار باندې پلورل او پیرودل کیده. سر له دې چې د مغلو خانانو زیاتره په ژمنیو او د اوړي جلا جلا کلیو کې ژوند کاو، نه په ښارونو کې. خو بیا هم قراقروم زیاتره صرف اداري او سوداګریز ښارو په دغه هېواد کې لویې جرګې هم جوړیدې. ښار لوړ دیوالونه، دروازې او بازارونه درلودل چې په هغه کې د بیلا بیلو هېوادونو سوداګر او سیاسي استازي اوسیدل، تر هغو چې (قبلای خان) په چین کې د پیکنګ ښار د مغلو د امپراتوري دایمي پلازمېنه وګرځاو او د کیږدیو ژوند یې پرېښود.
چنګیز خان د سواد زده کولو د دود کولو لپاره د مغلو ماشومان د ایغور ترکانو شاګردان کړل تر څو لیك- لوست زده کړي. چنګیز د سوداګري د آسانه کولو لپاره د لارو امنیت ټینګ کړ او د (یام) په نومونو یې پړاوونه جوړ کړل چې په یوه یام کې د تیریدونکو خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره شل شل زره نفوس ګومارل شوي و، تر څو په ګډه دغه لګښتونه پوره کړي چې هر کال به خارل کیدل. دغه غوسه ناك مشر د خپل هېواد دننه یو ډیر تکړه قانون پلي کوونکی و چې د (یاسا) قانون یې ولیك او د هغه له مخې یې په مغلو کې زنا او غلا په ډیرې کلکې سزا سره له منځه یوړل او اردو یې د هېوادونو د نیولو په خاطر په کور کورانه ډول اطاعت کولو ته اړ ایست. د لښکر کوچنی واحد لس کسیز دلګی و چې یو تن به یې د دلګی مشر و. له لسو دلګیو څخه یو ټولی جوړید له لسو ټولیو څخه یو هزاره او له لسو هزاره وو څخه یو تومان جوړید. د دلګی، ټولې، هزاره او تومان هیڅ غړی په هیڅ توګه نشو کولای چې تر مړینې پورې له هغه څخه جلا شي، که به جلا شو د اعدام حکم وربانډې تطبیق کید. د اردو وګړی به خپله د جامو او وسلې په چمتو کولو ګومارل شوي وو. دوی د جګړې د سفرونو په ترڅ کې د اردو یا لښکرو اړونده څارویو له محصولاتو خان ته خوراك چمتو کاو. دولت د هر ټولې د درې میاشتنی لګښت لپاره یو وچ شوی پسه او یو دو سپني دیګي ورکاو او بس. د عسکرو ښځو به د خپلو میړنو په نشتوالي کې کار کاو او د دولت مالیه یې ورکوله. چنګیز خان د واك په لومړیو کې له خپلو اوامرو څخه د اطاعت کولو په هکله له خلکو څخه ژمنه اخیستې وه، آن دا چې دا ژمنه یې هم اخیستې وه که حکم وکړي نو پلار به زوی او زوی به خپل پلار اعداموي، هغه په خپل یاسا کې ښکار کول د یوې جګړه ییزې مانورې په توګه منلي و چې د لښکرو د ځای پر ځای والی پر مهال به یې څو څو میاشتې وخت نیو. د لښکر عسکرو به د جګړې د مانور لپاره بیلا بیل ژوندي مخلوقات وځغلول او بیا به یې یوه ځای کې ایسار او بیا به یې ټول وژل. یو نیم به د سپني ږیرو او مشرانو په شفاعت له وژلو وژغورل شو همدا چاره د پردیو هېوادونو په هکله هم تطبیق کیدله. په دغه یاسا کې ډیر نور مسایل هم راغلي وو لکه: د لښکر جوړول. د ښارونو ورانول، عسکري انضباط، د ادیانو مساوات، د زاهدانو درناوی، د صنعت کارو ساتنه ود پیشه ورانو حفاظت، د سوداګریزو لارو امنیت، د مال مصونیت، د لقبونو له منځه وړل او یواځې د نوم درلودل، د مړیو د میراث ویش ورثه ته او که ورثه به نه و د مړي شاګرد یا مریې ته به

Scanned by CamScanner

ورکول کيد ، له بندي شويو ښځو سره غرض نه کول تر څو ترخان پورې را ورسول شي، بيا نو د خان خوښه وه چې ښځه يې ځان ته خوښوله که به يې بل چاته ورکوله (خو ددغه قانون احکام د اسلامي هېوادونو د نيولو پر مهال نه تطبيق کيدل). همدارنګه يو شمير نورو موضوعاتو کې هم يو څه قوانين او مقررات جوړ شوي وو چې د هېواد ټول اتباع د هغو په تطبيق مکلف وو. په دې توګه د هغه د هېواد په سراسر کې يو کلك انضباط اوامنيت ټينګ و او چارې بې له ځنډه پر مخه رواني وې، خو دغه خواکمن او قاهر مشر به د اړتيا پر مهال له دسيسې، حيلې او چل څخه هم کار اخيست. د دښمن په وړاندې به له لرې په احتياط، اعتدال او سړه سينه را څرګنديد ، هيڅکله به يې په غرور سره ګوابښ نه کاو، يواځې د ګوابښ پر مهال به يې وليکل چې: (... که تسليم نه شي مونږ څه پوهيږو؟ يواځې قديم خدای پوهيږي. چنګيز خان د هغو ويناوو په ترڅ کې چې په اسلامي هېوادو کې يې کړې وې، خلك د خدای په دربار کې ګنهکار او خپل ځان يې الهی کيفر ښوده. ددغې وينا اغيزه په عامه اذهانو کې د هغه مهال د مسلمانانو عقايدو له مخې له توري څخه کمه نه وه. هغه د سلطان محمد خوارزمشاه د ټکولو په نوم متمدن هېوادونه په کنډواله واړول. هغه بلخ چې د آسيا تر ټولو آباد او لوی ښار و خو دده ياسا سره مخالف و، مګر بې له جګړې څخه تسليم شوی و، هم په کنډواله بدل او ويې سوځاو ، باغونه يې و سوځول او خلك يې له يوه سره ووژل. حال دا چې هغه په هغو (يوليغ) يا فرمانونو کې چې خپلو نظامي افسرانو ته به يې ليکل د هېوادونو د نيولو په هکله داسې ويل: (... اميران او مشران او ډير رعيت په دې باندې پوهيږي چې ټوله ځمکه مې له ختيځ څخه تر لويديځ پوزې در کړې، هر هغه څوك چې اطاعت وکړي په ځان، مال او کورنۍ يې رحم وکړه، خو که څوك نه تابع کيږي له ښځو ، اولادونو او خپلوانو سره يې هلاك کړه). چنګيز خان په بخارا کې په يوه مرکه کې چې له امامانو سره يې کوله د مسلماني څلور بناوې (ظاهراً) د منلې، خو د حج د فريضې په هلکه يې وويل چې ټوله نړۍ د خدای کور دی، له هر ځای څخه يو څوك خان هغه ته ور نژدې کولای شي. د اسلام فقها چې له لفظي جدل سره يې ډيره مينه وه، د چنګيز خان له دغې وينا وروسته په دوو ډلو وويشل شول: يوې ډلې ويل چې هغه مسلمان دی ځکه څلور اسلامي بناوې يې ومنلې، بلې ډلې ويل چې کافر دی ځکه چې له حج له فريضې څخه انکار کوي. حال دا چې چنګيز خان عملاً د بخارا ښار له خاورو سره برابر او مصحف يې د آسونو پښو لاندې کړ او د بخارا نامتو کتابتون يې وسوځاو او خلك يې له يوه سره ووژل، يعنی چنګيزخان د خپلې موخې د تر لاسه کولو له خاطره له هيڅ بد کار څخه مخ نه اړاو. سره له دې چې يو شمير تاريخ ليکونکی د بېلګې په توګه (مسيورونه ګروسه) د آسيا د تاريخ مؤلف چې د (مغلو امپراتوري) يې ليکلي، د ترکو، خوارزمو او افغانستان د خلکو په وړاندې هغه پاك مسلمان راښيي، دا به ممکن د صليبي جګړو د دوه سوه کلونو له امله وي چې د هغو په پرتله په چنګيز ښه قضاوت کوي. خو دا ډول قضاوت د ختيځ د يو شمير نويو تاريخ ليکونکو له لوري چې زياتره اروپايي اخځونو باندې ډډه لګوي، ډير د تعجب وړ ښکاري، البته د هېوادونو په نيولو کې يو شمير نورو لکه اسکندر او سزار او امير تيمور کورګان او ناپليون هم له چنګيز سره په يوه کتار کې راځي، خو د نړۍ د يوې برخې په سوځولو او لوټ کولو کې چنګيز او آتيلا د نورو په پرتله ډير

Scanned by CamScanner

مخکې دي. که آتیلا ویل چې: زه د خدای بلا او د نړۍ ځپونکی یم او هر هغه ځای ته چې زما موزه رسېږي نو هلته به بیا ګیاه شنه نشي، خو چنګیز خان په عمل کې د همده خبره رښتیا کړه او په منځنی آسیا کې یې هغه وینا تطبیق کړه. نو ددغو دوو تنو په تاریخ کې یو څه توپیر هم شته او هغه دا چې آتیلا د خپل یرغل په خونړۍ تګلاره کې د هغه مهال په فرانسه کې نظامي مقاومت سره مخامخ شو او په ایتالیا کې له کلیسا او تدبیر سره مخامخ شو او د همدې د زور او زر تر اغیزې لاندې بیرته را ستنیدو ته اړ شو. دده له مړینې وروسته (په ۴۵۳ م. کې په هنګري کې) دده د ۵۰ اولادونو ترمنځ د واك پر سر جګړه او نفاق راغی، چې، دغو دواړو پیښو د اروپا په ژغورنه کې ډیره ښه اغیزه وکړه خو له بده مرغه د چنګیز یرغل په ختیځ کې هیڅ نظامي مقاومت سره مخامخ نه شو او په هیڅ تدبیر سره یې مخته تګ و نه درول شو، له مړینې وروسته هم د هغه د ۵۰۰ اولادونو ترمنځ د واك پر سر کوم نفاق پیدا نه شو. که و هم ددغه نفاق اور کلونه کلونه په نیول شویو هېوادو کې بل و او د هغه له امله چې څه نه و سوځیدلی. هغه هم و سوځیدل. نور په دغو هېوادو کې څه پاتې نه شول

## د مغلو د دولت تشکیل

د چنګیز پلار یسوګا د بور جیقین د قبیلي مشر و چې د آمو د سیند په بره برخه کې په مغلستان کې اوسید او په ۱۱۷۵ کې مړ شوی و، له هغه څخه یو ۱۳ کلن زوی چې تموجین نومیده پاتې شو. تموجین په ۱۱۲۲ کې په یوې لاربښوونکې کورنۍ کې زیږیدلی و او د پلار له مړینې وروسته د قبیلي له کورنیو مخالفتونو سره مخامخ شو، نو ځکه یې د (کرائیت او ساقیز) کریتي طایفو پاچا (اونګ خان) یعنی طغرل خان ته مخ واړاو، دا ځکه چې د کریت د هغه مهال دولت ډیر ځواکمن و چې د کنتي له غرونو څخه د چین تر دیوال پورې پراخه و. د کریت ترکان د مسیحي نسطوري مذهب لرونکی وو چې د برادر خون او لوي التائي د سیندو ترمنځ خمکو کې اوسیدل. او نګ خان تموجن خپل حضور ته ومانه او د هغه په مرسته یې مغل او ترك قبایل تابع کړل، خو وروسته یې په تموجن باندې شك راغی او د هغه د ورکولو هلې ځلې یې پیل کړې. تموچین له خان څخه د دفاع لپاره درې جګړې وکړې او په وروستی جنګ کې په ۱۲۰۲ کې په اونګ خان باندې بریالی او د هغه ټوله کورنۍ یې په بې رحمانه ډول له منځه یووړه. په دې توګه د کریت ټول هېواد د تموچین له خوا ونیول شو. هغه په ۱۲۰۲ کې د (چنګیز خان) لقب تر لاسه کړ، یعنی لوی شهنشاه. چنګیز خان په اونګ خان باندې تر بري وروسته نور شاوخوا قبایل هم مطیع کړل، قنقرات او اویرات قبایلو دغه بلنه و منله مطیع شول، خو تاتار او نایمن، جویرات او مرکد نه منله، چنګیزخان دغه ټول مخالفین یو په بل پسې مات کړل او د (آلتای سوی) په جګړه کې د تاتاریانو مشر ووژل شو چې یتانګ نومید. خو د تاتاریانو مشر (کچلوك) و تښتید، نور مخالفین تابع شول. په دې توګه د مغلو یو ځواکمن دولت جوړ شو.

وروسته تر هغه چې چنګیز خان د بور جیقین، کریت، نایمن، اویرات، ارلات، برلاس، جلایر او نورو بیلا بیل قبایل په یوه لویه جرګه کې د خپل قانون تابع کړل. په دې توګه هغه د ټولو هغو قبایلو شهنشاه

Scanned by CamScanner

شو چې څرڅایونه یې د خزر او جاپان د سمندرونو ترمنځ پراخه ساحه کې وو، کیږدی ددغو خلکو کور او ښار ګڼل کید او کوچیاني ژوند یې درلود. بل کوم مخالفت تـه موقـع پـاتې نـه شوه، دا ځکه چې ټول مخالفین و ځپل شول. د بېلګې په توګه سرغړوونکې جموکا بند بند جلا کړل شو.
توګته اعدام شو، یو شمیر نور مخالفین په ایشیدلو اوبو کې پاخه شول، د چنګیز دغـه سزاګانې دومره اغیزمنې وې چې د اویغور د تمدنو ترکانو پاچا (ایدي قوت خان) په خپله د چنګیز عبودیت و مانه، ځکه نه یې غوښتل ایشیدلو اوبو کې ولمبول شي اود چنګیز د یاسا له مخې یې ځان، اولاد، ښارونه او اتباع له ده سره یو ځای له منځه ولاړ شي.

## د مغلو سوبې

په چین کې: چنګیزخان د مغلو د دولت له ټینګولو څخه وروسته، د چین د هېواد د نیولو په لټه کې شو. یو ځل یې په ۱۲۰۷ کې د (هیا) یعنی د تانګوت دولت چې د چـین پـه لویـدیځ کې پـروت و او د چین او مرکزي آسیا ترمنځ یې د سوداګریزو کاروانونو لاره نیوله، له پښـو و غورځـاو. د شمـالي چین دولت ددې له دې یرغل څخه ډیر خوښ شو او خپلې دروازې یې د مغولو پرمخ پرانیستی. دا مهـال چنګیز د جنوبي چین (د سونګ د امپراتورۍ) چینـاییـان چې د شمـالي چیـن د امپراتـوري مخـالف وو، د شمالي چین له ختایي مخالفینو سره یو ځای ولمسول. بیا یې پـه خپلـه پـه ۱۲۱۱ کې د (لیچي لی) پر پلازمېنه یرغل وکړ، خو له کلك مقاومت سره مخامخ شو، خو مجبور شو چې خپلـه لـه خپلـو څلورو زامنو سره یو ځای پنځه کاله له شمالي چین سره جګړه وکړي. په پای کې په ۱۲۱۵ کال کې د پیکنـګ د ښار لـه محاصرې څخه وروسته د شمالي چین طلایي پاچا (اوتوبو) د ژیړ سیند څخه پوري غاړه مخ په کائفونګ و تښتید چې بیا په ۱۲۲۳ کال کې د هونا په ایالت کې په ناهیلۍ سره مړ شو. چنګیزخـان پـه شمالي چین کې د جګړې په ترخ کې زښته ډیرې وژنې او ورانـۍ وکړې او د بزګرانو ځمکې یې د مغلو د څارویو په څر ځایونو واړولې. کله چې چین ته مغلستان کې د چنګیز د پخوانیو مخالفینو د پاڅون خبر را ورسید، نو چنګیزخان بیرته ستیندو ته اړ شو چې همدا ښه خبر د پاتې هېواد د ژغورنې لامل شو. سره له دې چې د مغلو یوه بل سردار (موکولي) ددغه هېواد د نیولو لړۍ له لیچي لی څخه تر شـان تونـګ پورې او بیا تر تسی نان او چانسـي پـورې وغځولـه، خو د چین بشپړ نیول یواځې د چنګیز د لمسـي پـه نصیب شول اوکتای د خپل پلار له پاچاهي وروسته په ۱۲۳۳ کې ټول شمالي چین له کوریا سره یو ځای ونیول او د خاص چین پلازمېنه یعنی کالیفوینـګ یـې هم ونیـو. د اوکتـاي خـان زوی او ځای ناستي ګیوك خان تر ۱۲۴۹ کال پورې د مغلو خاقـان و چې د جنوبي چین د نیولـو لپـاره یـې لښـکر چمتـو کړ، وروسته بیا قبلای خان (۱۲۵۹ - ۱۲۹۳) جنوبي چین په بشپړ ډول ونیو او د سونـګ امپراتورۍ یې ړنګه کړه. همدې و چې په ۱۲۷۱ کې یې د پیکنـګ نوم پـه خانبالیغ بـدل کړ او د مغلـو د امپراتـورۍ پلازمېنه یې (یوان) وټاکله. د همدې پر مهـال جاپـان پـه ۱۲۷۵- ۱۲۸۱ کې یـو ځـل بیـا د مغلـو او کوریـایـي ۳۰-۵۰ زرو عسکرو تر یرغل لاندې راوستل شـو او پـه هـاکوزاکی او کوشـو سـواحلو کـې جګړې او یرغلونه تر سره

Scanned by CamScanner

شول سره له دې چې مغل په جاپان باندې په دغه یرغل کې د جاپان د خلکو او امپراتور له کلك مقاومت سره مخامخ شول او په ناکامي سره بیرته ستون شو. خو ددې پر ځای یې برما تر ۱۲۸۷ کال پورې ونیوله. په دې پسې د مغلو یرغلونه تر اندوچین او جاوا پورې وغځیدل

په هر حال؛ مغلو د چین د پراخه هېواد تر نیولو وروسته. د خپل روش او کړنلارې سرچپه، په منځنۍ آسیا کې د سوداګرۍ او صنایعو هڅونې ته ملا وتړله. آن دا چې دوی د نورو هېوادونو لوټ شوي غنیمتونه همدلته راوړل. په دې توګه دلته یو غورځنګ رامنځته او په دې ډول غورځنګ سره یو ډول نوي صنایع ایجاد شول او په سلګونو نوي کارخایونه د سلهاوو کارکوونکو په لرلو سره جوړ شول. د چین لرغوني او نامتو صنعت یعنې چیني جوړول. وریښم اوبدل او بیړۍ جوړول بیه پرمخ ولاړل. خوله دې ټولو سره سره د مغلو ناوړه چلند او فشار په چین کې بزګران، د فیوډالو طبقه او ټول خلك په تنګ کړل او تبعیض یې د خلکو کرکه را وپاروله ترڅو چې په څوارلسمه پیړۍ کې د خلکو پاڅون پیل شو او پایله یې د چین د امپراتورۍ جوړېدل او د مغلو د واکمنۍ پای ته رسیدل او ددغه پاڅون په پای کې نه یواځې دا چې د (مینګ امپراتوري) جوړه شوه، بلکې د چین خلکو مغل تر مغلستان پورې پسې واخیستل او خان ته یې تابع کړل. په دې توګه تر شپاړسمې پیړۍ پورې مغل د ګوبي د صحرا په شمال کې ایسار پاتې شول. ترڅو چې په اوولسمه پیړۍ کې ورته هیڅ واك پاتې نه شو او بیرته په خپلو قبایلو او طآیفو باندې وویشل شول. چینایانو همدغه چلند د جاپاني یرغلګرو په وړاندې هم پرمخ بوت او په ۱۵۹۸ کې یې جاپاني لوی امپراتور حریص ویهده یوشي لښکر او د ساموراییانو ټول ځواك سیند ته واچول. په دې توګه د جاپاني نظامیانو له خوا د چین د نیولو هیله او د چین ساحلي ښارونو باندې د جاپان د بیړیو یرغلونه او د جاپاني نظامیانو پرله پسې نور یرغلونه ټول په اوبو لاهو او پای ته ورسیدل.

چنګیزخان د شمالي چین له نیولو وروسته د خپلو دوو نامتو جنرالانو (یمه او سبتای) تر مشرۍ لاندې په لویدیځ کې دوه لښکرونه کاشغرستان ته ولیږل. دغه لښکر په ۱۲۱۷ کې د تقماق په سیمه کې د کاشغرستان د غاصب پاچا کوچلوك خان نایمن ځواکونو ته ماتې ورکړه او خپله کوچلوك خان یې تیښتې ته اړ ایست. د تیښتې په لاره کې د مغلو پل اخیستونکو رسالو هغه د بدخشان په لاره کې ونیو او مړ یې کړ. په دې توګه د نایمن دولت ختم شو او د یارکند، کاشغر، ختن او د پامیر تر سیمو ټول ولایتونه د مغلو د امپراتورۍ یوه برخه و ګرځیده، د تارم او ایلي سیمې هم ور سره و تړل شوې. په دغې بیړنۍ سوبې کې د کاشغرستان د اویغور، قرلق او المالیق د قبایلو او د مسلمانانو او عیسویانو مخالفت دیر اهمیت درلود، دا ځکه چې د کوچلوك مذهبي تعصب او ناوړه ادارې او ظلمونو ټول خلك په تنګ کړي وو نو ځکه هغوی د مغلو د ځواك ملاتړ وکړ. د چنګیزخان مامورینو هم د کاشغرستان له نیولو وروسته په ډیر تدبیر چلند غوره کړ او د هر دین او مذهب پیروان یې آزاد او مساوي پریښودل. په دې توګه مسلمانانو او عیسویانو د مغلو ادارې سره د جوړ جاړي لاره غوره کړه. له همدې نیتې وروسته کاشغرستان د چغتائیانو تر ادارې لاندې راغی

## په منځنۍ آسیا باندې یرغل

کله چې چنګیزخان د مغلو دولت جوړ کړ او شمالي چین یې ونیو نو ختیځ ترکستان یې هم ور سره کړ، خو تردې مهال پورې یې د منځنۍ آسیا خواته پرمختګ ته پام نه شو، دا ځکه چې هغه خوارزمشاه یاد خوارزمیانو شهنشاه ته د نړۍ د تر ټولو ستر واکمن په توګه کتل، نه یې غوښتل خپله نوې جوړه شوې صحرایي امپراتوري له داسې یوه ځواک سره په قمار کې بایلي. چنګیز نه غوښتل چې له لرې ځخه پردې، باطني او پاشلي نظر سره دغې شهنشاهي ته و ګوري، خو خوارزمي دولت یې د یوه پرتمین ډیر او لوی ځواک په توګه ګاڼه چې لـه سیحون ځخه تر عراق پورې لویه سیمه یې واک لاندې وه چې ډیر سمبال په لسګونو میلیونه تنه نفوس یې درلود. هغه اوریدلي وه چې خوارزمشاه ځلور سوه زره سپور لښکر لرې او دغه لښکر پوره وسله لري او یه جګړییزو فنونو کې ښه پوخ دی، نو په دې توګه چنګیزخان په دې کې مصلحت لیده چې !ه دغه ډول یوه لوی شهنشاه سره په سړه سینه او احتیاط سره چلند وکړي او ځان بې طرفه و نیسي او پـه دې ترخ کې لـه بهرنیو هېوادونو سره د سوداګرې لـه اړیکو ځخه کار واخلي، دا پـه داسې حال کې چې د چین، هند منځنۍ آسیا او د دده د قلمرو د سوداګري ټولې لارې د خوارزمشاه له قلمرو ځخه تیریدلې. یواځنې دولت چې و همدا د خوارزم دولت و چې دا امکان یې چمتو کاو چې د مغل دولت له بهرنۍ نړۍ سره اړیکې وساتي او دا هم کولای شي چې ددغو لارو په بندولو سره د مغلو دولت په سوداګرۍ کې پاتې راولي او له نړۍ ځخه یې ګوښه کړي. چنګیز خان تر ټولو زیات په دې باندې پوهید چې څه وکړي او دغه ټکې چې وویل شول ځرنګه په پام کې ونیسي، نو له همدې امله یې په ۱۲۱۵ کې د خوارزم سلطان سفیر سید بهاء الدین رازي چې تر پیکنګ پورې رسیدلی و، په درناوي سره خپل حضور ته ومانه او د دواړو هېوادو ترمنځ یې د سولې او د سوداګریزو اړیکو د اړتیا پـه هکلـه خبرې ورسره کړې وې. ده لـه تـانګوت ځواکونو ځخه د چین د سوداګریزو لارو خلاصول او سوداګرۍ ته د هغو چمتو کول د تورې پـه زور تر سره کړي وو، کله یې چې ماورالنهر د سوداګرو لومړنی کاروان په خپله سیمه کې ولید، پـه ډیر شوق او خوشحالي یې د هغو هرکلی وکړ، نه یواځې دا چې هغوي ته یې ډیره ګټه ورکړه، بلکې د هغوی نامتو سوداګر یې خپل حضور کې و منل او هغوی ته یې د ختیځ او لویدیځ سره د خپلو سوداګریزو اړیکو د ټینګولو پـه هکله ډاډ ورکړ. دا یواځې نه، بلکې چنګیز خان له دغه کاروان سره یو ځای خپل سفیر محمد یلواج له یو شمیر سوغاتونو او پیامونو سره سلطان محمد خوارزمشاه ته واستاو (په دغو سوغاتونو کې یو د اوښ د غاړې په پلنوالی سره یوه ټوټه سره زر هم و). چنګیز په خپل پیغام کې د سوداګریزو اړیکو د ټینګیدو هیله کړې وه، هغه په دغه پیغام کې ځان د مشرق پاچا او خوارزم د مغرب پاچا یاد کړی و او د دواړو ترمنځ یې د دوستي د ټینګیدو هیله کړې وه سلطان د اوس لپاره د چنګیز خان وړاندیزونه و منل او د دواړو لوریو ترمنځ د سـوداګرۍ د ټینګیدو په برخه کې یې د چنګیز له سفیر محمد یلواج سره یو قرار داد وکړ او د سـوداګریزو اړیکو د ټینګیدو وعده یې ور سره وکړه.

چنګیز خان ددغه هر کلي له امله ډیر خوښ شو او دې پسې وروسته یې د ځلور سوه سوداګرو په ګډون د

Scanned by CamScanner

سرو او سپینو په شمول د ګڼ شمیر سوداګریزو توکو یو کاروان چې هغه کې قیمتي کاڼي. وریښم، رختونه او نور وو، د خوارزمشاه د ملك په لوري ولیږ. کله چې دغه کاروان د سیحون په غاړه کې د اترار ښار ته ورسید او سلطان د اترار د ښار له حاکم غایر خان یا (نیالجق) څخه ددغه کاروان د را رسیدو خبر واوریدنو امر یې وکړ چې مغل سوداګر دې ټول ووژل شي او د هغوی مالونه دې لوټ شي. دا څکه چې د سلطان په سر کې د چین د هېواد د نیولو او له چنګیز سره د جګړې کولو فکر و. چنګیز دغه خبر د هغه سوداګر له خولې څخه واورید چې ژوندی تښتیدلی و، خو لا هم په دې باور نه و چې داسې یو مقتدر پاچا دې داسې یو غلط او د لیونتوب کار وکړي. نو ددغې پیښې د ښه پوهیدو لپاره یې د سفارت درې کسیز هیئت چې دوه تاتار (مغل) او یو مسلمان پکې و، د سلطان دربار ته ولیږ تر څو د ضبط شویو مالونو تاوان او قاتل له سلطان څخه وغواړي، خو ددغې معقولې غوښتنې په ړاندې د سلطان ځواب همدا و چې د سفارت درې تنه هیئت ووژني. کله چې چنګیز د سلطان له دې دوهم لیونتوب څخه خبر شو، کلك ټکان یې و خوړ او ویې ویل سلطام محمد یو پاچا نه بلکې یو غل دی. چنګیزخان پوه شو چې تر څو چې د خوارزم دولت موجود وي نو د چین او لویدیځ ترمنځ به د سوداګریزې لارې بندې پاتې وي، دا څکه چې له چین څخه د وریښمو لارې مخ په هند، ماورالنهر، لویدیځ، ایران او مغلستان ټولې لارې د خوارزمشاه له قلمرو څخه تیریدلې او د مغلو د قملرو سوداګریز شاهرګ د خوارزمشاه په لاس کې و چې کله یې که غوښتل په یوه فشار سره هغه فلج کولای شي، نو په دې برخه کې د چنګیز سکوت د تسلیمي معنا درلوده، نو څکه یې د لارو د سمبالولو امر وکړ او په ۱۲۲۰ کې یې له دوه سوه زرو سرتیرو سره چې په هغو کې مغل او ترك وو، مخ په ماورالنهر حرکت وکړه.

سلطان په داسې حال کې چې له خپل اردو سره یو ځای له سمرقند څخه بخارا ته او له هغه ځایه سیحون ته روان شو، له ټولو ولایتونو څخه یې د لښکر د را ټولیدو امر وکړ. دا مهال د خوارزم د لښکر یوې برخې مخکې تر مخکې د سیحون تر غاړو دفاعي حالت غوره کړی و، دا څکه چې د دښمن د یرغل اټکل د سیحون د غاړو له شمال لوري څخه ډیر و، خو د مغلو لښکر له دې لوري څخه نه، بلکې د کاشغرستان له سیمو څخه مخ په فرغانه راغی، نو د سیحون جبهې ځان د فرغانې دفاع ته اړ کړ چې په دې توګه له ستونزو سره مخامخ شول. مغل له دې وضعیت څخه نوره هم استفاده وکړه او د بالخاش له سیمې یې هم په یرغل لاس پورې کړ او خوارزمي مدافع توق تغان قنقلي یې مات کړ. دا مهال په خپله سلطان ځان د دښمن د لښکر مخې ته ورساو او د قیلي او قیمچ سیندونو ترمنځ یې د مغلو یوې مفرزې سره جګړه وکړه، کله چې مغل و پوهیدل چې په خپله شاه سره مخامخ دي، نو له جګړې څخه یې مخ واړاو، خو سلطان له دې سره سره په جګړه پیل وکړ، مغلو ډیره کلکه جګړه کوله نو څکه د سلطان د لښکر کیڼ اړخ مات شو، که چیرې د سلطان د زوی جلال الدین مرسته له ښي اړخ څخه نه وای را رسیدلی او د نیزې په څوکه یې د دښمن مخه نه وای نیولی، نو بې له شکه چې سلطان په همدې جګړې کې ماتې سره مخامخ کید. په هر ترتیب د ماښام تیاره د جګړې د پرمختګ مخه ونیوله چې د شپې په ترڅ کې د مغلو لښکر شاته شو، خو سلطان ددغې جګړې په لیدلو سره په پوځ خپل باور له لاسه ورکړ، ده له مخکې خپل باور

Scanned by CamScanner

په رعیت باندې هم له لاسه ورکړی و چې یواځنې ډاډ یې پر پوځ و. ده چې له جګړې څخه مخ واړاونو جلال الدین او لوړو افسرانو او د دربار رجالو ورته ډیر ټینګار وکړ چې باید مغل سره کلکه جګړه وشي، خو هغه و نه منله. له همدې امله یوه شپه یو شمیر افسرانو دده په اړه ناوړه نیت وکړ او د هغه د خوب خیمه یې وویشتله، خو سلطان په احتیاطي توګه خپله خیمه بدله کړی وه، نوروغ پاتې شو، په دې توګه هغو افسرانو چې دا کار کړی و، د چنګیز پلو ته ځانونه ورسول او و تښتیدل، دغې پیښې هغه وروستي بارو هم له منځه یووړ چې د سلطان او پوځ ترمنځ پاتې و. په دې توګه سلطان هېواد له بیلا بیلو سیمو څخه د دفاع په نوم یو شمیر افسران د پوځ یوې برخې سره هره خواته ولیږل او لوی افسران یې خواره واره کړل، په خپله په بیړه د افغانستان لوري ته را روان شو. داسې ویل شوی چې یو شمیر جعلي لیکونه د سلطان او د هغه د افسرانو ترمنځ بدل را بدل شوي وو، نو ځکه د افسرانو او سلطان ترمنځ بې باروي راغلی وه. دغه ډول لیکونه د چنګیز د لښکر په عنوان سره د افسرانو په نومونو راغلي وو او ټول د سلطان لاس ته ورغلل. دغه کار د سلطان د دیوان د یوه ناراض مامور په لاس تر سره شوی و چې بدر الدین عمید نومید چې پلار او کورنۍ یې چې د اترار اشراف وو د سلطان په امر اعدام شوی وو او په خپله هم د اړ دوړ پر مهال د چنګیزخان خواته و تښتید او پناه یې ور وړه. په دې کارکې عمید یواځې نه و، بلکې یو شمیر نور د کاشغرستان او ماورالنهر مسلمانان هم وو چې د کوچلوك خان او سلطان د ظالمې ادارې له لاسه د چنګیز خان خوته اووښتي وو، ځینو هغو مامورینو هم چې له دولت څخه یې کرکه پیدا شوې وه د دولت د ملاتړ پر ځای د چنګیز خان خواته تګ غوره بللی و. چنګیز خان په خپلو جګړییزو سوقیاتو کې له دغه ډول پناه اخیستونکو څخه ډیره زیاته استفاده کوله.

سلطان چې د بهرني دښمن په اندازه له کورنیو دښمنانو څخه هم ویریدلی و بې له ځنډه له ماورالنهر څخه را تیر او په جیحون را پورې وت او ځان یې بلخ ته ورساو. هلته یې د امپراتوري مرکز ګرګانج ته امر وکړ چې سلطنتي کورنۍ باید ایران ته ولیږدول شي. ده د افغانستان او ماوزالنهر په قلمرو کې لویو ښارونو ته امر وکړ چې د دښمن په راتګ سره ځانونه ورته تسلیم او جګړې څخه دې تیر شي، تر څو کوم ښار وران- ویجاړ نشي. په دې لړ کې یې د مرو ښار ته داسې حکم وکړ: د مرو لښکر دې نورو ښارونو ته ولاړ شي او خلك دې د مغلو په راتګ سره تسلیم شي دا ځکه پاچا چې د زړه په شان دی چې ضعیف شو، نو نور وجود په خپله ضعیف او کوم قوت ورته نه پاتې کېږي. په دې توګه سلطان لوی لوی هېوادونه په پرانیستو دروازو دښمن ته ور پرېښودل او په خپله له افغانستان څخه ایران ته ولاړ او هلته د خزر د سمندر په یوه ټاپو کې پټ شو تر څو همالته ومړ. سلطان محمد یواځې همدا و نه کړل، بلکې خپل خامن لکه جلال الدین او رکن الدین او غیاث الدین ته یې هم د هېواد د مرکز او ادارې د ساتنې لپاره د ځای ناستې په توګه اجازه ور نه کړه او ټول یې له ځان سره بوتلل. دغه کار په هغه مهال کې چې مونږ خبرې ور څخه وکړی دښمن ته بې له جنګه د ټولې شهنشاهي د تسلیم کولو په معنا وه، دا ځکه چې یو داسې هېواد چې د هغه په سر کې یواځې یو مطلق العنان او خپلسرې پاچا وي لکه د هغې کېږدی په شان دی چې یواځې یوه مرانده ولري، نو که دغه یوه مرانده وشکیږي، کیږدی ټوله په خپله غورځیږي، په دې

Scanned by CamScanner

توګه د پاچا په تګ سره تړوله اداره او دولتي تشکیل له منځه ولاړ له هندي املې په پخوا د چاپاهانو مرینه تر هغو پورې پټه ساتل کیده، تر څو به چې د هغه ځای ناستی ښه کلك شو په هر حال؛ کله چې پاچا و تښتید او خپل قلمرو یې دښمن ته پرېښود، په خوارزم، ماورالنهر او افغانستان کې خلکو له وطن څخه د دفاع په خاطر پاڅونونه وکړل. په تیره بیا د افغانستان خلکو ګام په ګام دومره جګړه وکړه چې له خپلو سنګرونو او کلاوو سره یو ځای له منځه ولاړل، خو کڼ شمېر روحانیون او سیاسي او نظامي دستې په دستې تسلیم کیدل، خو چنګیز خان د سلطان محمد خوارزم په پراخه قلمرو کې څه وکړل؟

## الف) په ماورالنهر کې

د مغلو لومړنی یرغل د سیحون تر غاړې د اترار په ښار وشو، د اترار حاکم غایرخان چې د چنګیز د کاروانیانو د قتل عامل و له شل زرو عسکرو سره په زړورتوب د ښار دفاع وکړه، قراجه حاجب هم له خپلو لس زرو عسکرو سره چې د سلطان له خوا د لښکر د تیت او پرك کولو په ترڅ کې، د هغه مرستې ته ورغی. غایر خان د خپلو خلکو او پوځ په مرسته پنځه میاشتې دفاع وکړه. خو په پای کې قراجه مرستندوی پوځ خیانت وکړ او دښمن ته تسلیم شو او د ښار دروازه یې پرانیسته. غایرخان له نور پاتې پوځ سره په ارګ کې ایسار او یوه میاشت نور یې هم دفاع وکړه، خو په پای کې د لاس او ګریوان د جګړې په ترڅ کې ونیول شو او ووژل شو. مغلو ښار لوټ کړ او ساتونکي یې ټول ووژل او کاري خوانان او حرفویان او پیشه وران یې بندیان کړل. د اترار سوبمن جغتای او اګوتای د چنګیز زامن وو، دا څکه چې په خپله چنګیز چې کله اترار کلا بند کړی و، نو د بخارا خوّاته تللی او خپل دریم زوی جوجي یې د جیحون د غاړې د نورو ښارونو د نیولو لپاره لیږلی و. جوجي هم د خپلې لارې په ترڅ کې چې د سیحون وروستی خولته تله د اترار څخه د یوه اوږده واټن په سیمه کې د سقناق ښار وروسته تر یوې اونۍ جګړې څخه ونیو او هغه یې ویجاړ کړ او خلك یې ورته له یوه سره ووژل، دا څکه چې هغوی مخکې د مغلو استازی حاجي حسن چې سقناق ته ورلیږل شوی و او خلك یې مغلو ته د تسلیم کیدو په خاطر بللي وو، وژلی و. همدارنګه جوجي د اوزجند، کنت او اشناس ښارونه نیولي وو، خو دغه وروستی ښار یو څه مقاومت کړی و، نو څکه یې د هغه اوسیدونکي ټول وژلي وو، خو د جند ښار ددغه ښار زر ونیول شو دا څکه، چې حاکم او ساتونکي عمید خان خوارزم ته و تښتید او دفاع یې ونشوه کولای، نو کله چې مغلو دغه ښار ونیو ښار یې لوټ کړ، خو د هغه ځای حکومت یې یوه بخارایي مسلمان (علي خواجه) ته ورکړ. د مغلو بله مفرزه د الاغ نویان (شهزاده) تر قوماندې لاندې د بناکت ښار وروسته تر درې ورځو جګړو څخه ونیو او ددغه ښار ساتونکي افسر ایلتو ملك یې د هغه له ټول لښکر سره یو ځای ووژل. وروسته له هغه څخه شل زره مغل عسکر له پنځوس زره حشري سرېو (د نیول شویو سیمو بندیان) سره مخ د خجند د ښار په خوا ور غلل. د خجند د نامتو ښار ساتونکي تیمور ملك له لس زره عسکرو سره په هغه نظامي کلا کې چې د سیحون په پای کې وه دفاعي وضعیت غوره کړ، په میړانه یې جګړه وکړه،

Scanned by CamScanner

مغلو په حشري سړیو له درې فرسنګه لرې واټن څخه د منجنیق لپاره تیږې راوړې، کله چې تیمور ملك دفاع نا ممکنه ولیده، له خپل پاتې لښکر سره یو ځای په اویا سر پوښ لرونکو بېړیو کې سپاره شول، خو د مغلو پوځ هغوی د سیحون له دواړو غاړو څخه تر بار جلیغ پورې ویشتل، هغه په جګړه جګړه تر جلیغ کتت پورې ورسیدل هلته له بېړیو کوز شول او په آسونو سپاره د خوارزم خواته و تښتیدل، خو خجند کې ډیر مړي وشول او ګڼ شمیر ښځې او نارینه بندیان شول. ډیر صنعت کاران او پیشه وران هم ونیول شول. دا مهال په خپله چنګیز بخارا ته ورسید، هغه یو نا څاپه د بخارا له ښار څخه ۱۲ فرسخه لرې د نور دروازې د کلا ترمخې د ترکمانانو په لاربښوونه د زرنوق د کلا له لارې په غیر عادي ډول را څرګند شو. ښاریانو ته کوم فرصت پاتې نه و، ټول تسلیم شول. دوی یو کلن مالیات (یو نیم زره دیناره) مخکې له مخکې په یو ځل ورکړل. دوی ډیر لږ اندازه دینار لرل نو ځکه یې د خپلو ښځو ګاڼې و پلورلې، خو له دې سره سره دغه ښار د مغلو په لاس لوټ شو، له دې وروسته چنګیز ښار ته ننوت، خلکو دفاعي جګړه پیل کړه، نظامي قوماندانو کشلو خان او اینانج خان له خپلو دولس زرو سر تیرو سره جګړه وکړه، خو په ماتې سره مخامخ شول چې ډیر مړي وشول. انیانج خان وتښتید، یواځې څو سوه ساتونکو د بخارا د ارګ ساتنې ته دوام ورکړ. بخارا درې ورځې کلا بنده وه، په څلورمه ورځ سوداګرو، روحانیونو او اشرافو رایه ورکړه چې تسلیم شي، په دې توګه د قاضي بدر الدین په مشرتوب یو د سولې هیئت چنګز خان ته ورغی، چنګیز خان د امن او امان ژمنه وکړه او ښار ته ننوت، هلته چې څه غله وه هغه یې ټوله خپلو عسکرو ته ورکړه، بیا یې په خلکو پیسې او مالونه حواله او ور څخه وایې خیستل. بیا د ښار اوسیدونکی بهر وشړل او ښار ته یې اور واچاو او هر څه یې ویجاړ کړل، ځوانان یې حشر ته و ګومارل، پاتې خلکو ته یواځې د تن جامې پاتې شوی او د کلیو خواته و تښتیدل. د بخارا علما او پوهان هم یا ووژل شول یا هم و تښتیدل. د بخارا اشراف او سوداګر او بډای خلك چې ټول ۲۸۰ تنه وو، په یوه ورځ کې د پولې پرك ته کیناستل، نور نو نه کتابتون، نه مدرسه، نه خانقا، نه بازار او نه هم کومه ودانۍ پاتې شوی وه، په دې توګه د آسیا د علم او تمدن یوه لویه زانګو له منځه ولاړه، په داسې یو وخت او ځای کې چې د بخارا یو شمیر ملایان چنګیز خان ته راغلي وو او د خپلو معاشونو او مستمري غوښتنه یې لکه د خوارزمشاه د دورې په شان کوله، نو چنګیز ور څخه و پوښتل چې سلطان محمد تاسې ته ولې داسې معاش در کاو؟ دوی ورته وویل دا ددې لپاره چې مونږ هغه ته دعا کوله. چنګیز وویل که ستاسو دعا منل کیدای، هغه به په داسې ورځ نه اوښت، نو ځئ په مخه مو ښه. چنګیز خان د ۱۲۲۱ کال په پیل کې د سمرقند خواته روان شو، په داسې حال کې چې زرګونه حشرې بندیان یې د لښکر مخکې روان ود او امر شوی و چې هر هغه بندي چې د مغلو له سورلۍ څخه وروسته پاتې شي همالته دې ووژل شي. سم چې چنګیز د سمرقند ښارته ورسید هغه یې کلا بند کړ. د سلطان ماما طغان خان له پنځوس زره سر تیرو سره د ښار ساتنه کوله د سمرقند کلابندې لس ورځې اوږده شوه، په دې ترڅ کې یوه ورځ د ښار اوسیدونکی را ووتل او د دښمن په لښکر یې یرغل وکړ، خو د مغلو د دوو ډلو ترمنځ را ګیر شول او ټول ووژل شول، د وژل شویو شمیر پنځوس زرو ته ورسید، طغای خان له خپلو سر تیرو سره دښمن ته

تسلیم شو د کلا بندۍ په یوولسمه ورځ د ښار قاضي او شیخ الاسلام د خلکو په استازیتوب چنګیز ته ورغلی او د ښار د تسلمیدو خبره یې ورته وکړه. د مغل لښکر چې کله ښار ته ننوت، نو د سمرقند ارګ یې و نړاو او د ښار ټوله وسله او څاروي یې ونیول. بیا یې د خلکو کورونه لوټ کړل او خلك یې له ښار څخه و ویستل او ښآر ته یې اور واچاو، بیا یې د ښار د خلکو ټولوژنه پیل کړه. یواځې ۳۰ زره مرئیبان او ۳۰ زره حشري خلك او څو نور یې ژوندي ونیول. د وژل شویو په ډله کې ۳۰ زره قنقلي ترکان او څلور تنه لوړ پوړي خوارزمي سرداران هم وو، په دې توګه د ماوراالنهر دوهم لوی ښار هم له منځه یوړل شو.

له هغه وروسته چنګیز افغانستان ته د تګ په لاره کې د نخشب سیمه هم ویجاړه او بیا یې ترمذ لوټ کړ. د ترمذ د کلا ساتنه پخوا افغاني سردارانو ته سپارل شوې وه، خو دا مهال سیستاني افسران هلته میشت وو، دوی د مغلو د ویروونکو آوازو سره سره و نه ویریدل بلکې دفاع ته یې ملا تړلی وه، دغې کوچنۍ کلا یوولس ورځې د چنګیز په وړاندې جګړه وکړه، خو د دښمن له بریالیتوب ورسته د کلا وروستی ساتونکی هم ووژل شو. دا مهال چنګیز امر وکړ چې د ښځو نسونه او یا ګیډې دې و څیرل شي چې ګاڼې یې نه وې خوړلی او هلته پټې نه وي، دا ځکه چې یوې ښځې همداسې کړي او او په ترمذ کې یې خپله اعتراف کړی و. له دغې جګړې وروسته د ماوراالنهر هیواد لکه د کاشغرستان په شان د چنګیز د زوی چغتای او د هغه د اولادونو اداري لاندې راوستل شو او د ماوراالنهر خلکو ټولو لکه تاجیکانو او ترکانو او نورو تر څوارلسمي پیړۍ پورې د مغلو په تابعیت کې تیر کړل. په همدغې پیړۍ کې بیا امیر تیمور ګورګان د مغلو چغتایي دولت را وپرځاو او د پنځلسمې پیړۍ تر پای پورې په ماوراالنهر باندې ګورګانیان واکمن وو. وروسته بیا په شپاړسمه پیړۍ کې شیبانیانو وکولای شول چې په ماوراالنهر کې حکومت تر لاسه کړي او تر نولسمې پیړۍ پورې بیا د دوی نور ځای ناستو لکه استراخاني جنیدیان او وروستي نوغیان په ماوراالنهر کې په څوآك کې پاتې شول. د روسیې ترزاري دولت په همدې کلونو کې د بخارا دولت لکه د خیوې د دولت په شان خپل تابعیت لاندې راوست او دغې وضع دوام درلود تر څو چې په شلمه پیړۍ کې په ماوراالنهر کې د سوسیالستي شوراګانو څو جمهوریتونه را منځته شول.

## ب) په خوارزم کې

په دیارلسمه پیړۍ کې د خوارزم پلازمینه او د ګنج یا ګرګانج د قبچاق، جنوب روسیې ماوراالنهر، چین، افغانستان او هند ترمنځ د سوداګرۍ، کلتور او فرهنګ یو لوی مرکز و چې په منځنۍ آسیا کې یې تر ټولو زیات پوهان او کتابتونونه درلودل. یاقوت حموي چې یو وخت په خپله په همدې ښار کې میشت و، د مغلو تر یرغل مخکې ددغه ښار د پرتم په هکله په تعجب سره لیکنې کړي، کله چې سلطان له افغانستان څخه ایران ته وتښتید، ملکه ترکان هم چې د اور ګنج واك یې درلود، له شاهي کورنۍ سره ایران ته د تګ نیت وکړ او د ښار ساتنه د سپهسالار علي، عماد الدین مشرف او شرف الدین وکیل په غاړه ولویده. د سلطان تر مړینې وروسته د هغه درې زامن جلال الدین، زلاغ شاه او آقشاه له ایران څخه

Scanned by CamScanner

بیرته اورګنج تـه راغلـل او د جلال الدین پاچـاهي اعـلان شـوه، خـو ترکـان د کـوچنی ورور او پخوانی ولیعهد قطب الدین پلوی کاو، نو ځکه یې د جلال الدین پاچا کیدل و نه منل، دغه نفاق دولت ضعیف کړ، نو جلال الدین او ورونه یې افغانستان ته راغلل. جلال الدین د نسا له لارې نیشاپور ته ورسید، خو د لارې په ترڅ کې د مغلو له اوه سوه عسکرو سره مخامخ شو، جلال الدین خپلو درې سوه سپرو سره مغل مات کړل او د زوزون او بُست لـه لارې هرات تـه ورسید، وروسـې د غزني خواتـه ولاړ. دده دوه نور ورونه او زلاغشاه او آقشاه له خوارزم څخه د تښتیدو پر مهال په قوچان کې د مغلو له هغو عسکرو سره مخامخ شول چې د لارې د ساتنې دنده یې درلوده، چې د هغو په لاس ووژل شول.

د اور ګنج نظامیانو د اړتیا له مخې د ملکه ترکان یو خپلوان خمار تګین له مغلو څخه د دفاع په خاطر موقتاً د پاچا پـه توګـه غوره کړ، دا مهال نوي زره سر تیری چمتو شول. چنګیز خان خپل درې زامن چغتای، اوګتای او جوجي لـه سل زرو سرتیرو سره له بخارا او جند څه له زرګونو حشریانو سره اور ګنج ته ولیږل. د کلا بندي جګړه د مغلو او اورګنج ترمنځ د ۱۲۱۸ لـه پـای څخـه نژدې تر ۱۲۱۹ کال پورې اوږده شوه او څلور میاشتې وخت یې ونیو. په دې موده کې مغلو د حشریانو په لاسونو په لسو ورځو کې د ښار شاوخوا کنده ډکه کړه او د منجنیق په واسطه یې د ښار دیوال وران کړ. د خوارزم سرتیرو د یوې جګړې په ترڅ کې کلکه ماتې و خوړه او ډیر یې په ډګر کې ووژل شول، نو بل ځل یې د ډګر پرمخ جګړې ته کړه. خمار تګین هم ژړه بایلود او له ښار څخه بهر دښمن ته تسلیم شو. مغل ښار تـه ننوتـل، خو هلته د ښار د خلکو له کلکی لاس او ګریوان جګړې سره مخامخ شول. غوري فریدون پـه دغـه میړنی جګړه کې چې د ښار په هره هره برخه کې یې وکړه ډیر اوچت رول تر سره او غـټـه قهرمـاني یـې وکـړه. د ښار د زړورو خلکو له منځ څخه یواځې یو تن عالی الدین محتسب د دښمن لښکر تـه تسلیم شو. پـه دغـه جګړه کې صوفي اسلام شیخ نجم الدین کبری هم ګډون درلود. نوموړی لومړی محتسب و، وروسته بیا صوفي شو، ایران او مصر ته هم تللی و او بیا په خوزستان کې د شیخ اسمعیل مرید شو او هم یې له شیخ عمار، یاسر او شیخ روز بهان سره لیده کاته کړي و. کله چې بیرته خوارزم ته راغـی د خوارزم د خلکو او نامتو صوفیانو مرجع شو. سلطان محمد د خلکو ددغـه معنوی مرکزیـت څخـه بد و ګڼل او د شیخ یو شاګرد (مجد الدین بغدادي) یې په یوه پټه قضیه تورن او بیا یې مړ کړ، خو سلطان پـه خپلـه دده پـه هکله څه و نشو کولای، دا ځکه چې خلکو یې کلك ملاتړ کاو.

کله چې د مغلو یرغـل اور ګنـج تـه ورسید. شیخ نجم الدین د صوفیانو ۲۰ تنـه مشـران لکه شیخ سعد الدین حموي رضي الدین علي لالا، سیف الدین باخزري او نورو ته امر وکړ چې له خوارزم څخه ووځي، خو خپله و نه وت او کلك کیناست ترڅو چې د مغلو عسکر را ورسیدل، هغه وخت یې خپلو مریدانو ته وویل: قوموا علي اسم الله فقاتلوا في سبیل الله. وروسـتـه یې له خپله ملا وتړله، نیزه یې را پورته کړه او د جګړې ډګر ته ور ووت او دومره یې جګړه وکړه چې پـه پـای کې د دښمن د ګوزارونو پـه ټپونو له پښو ولوید او مړ شو چې اسلامي یې شمیره روحانیونو ته یې د وطنپالنی درس او د عبرت درس پرېښود. په هر حال، د مغلو لښکر په اورګنج باندې تر برې وروسـتـه ټول ژوندی مخلوقات بهر وایستل او پاتې تش

شوی ښار یې ټول لوټ او ویجاړ کړ او سل زره خوانانې یې خان سره بندیان کړل. ښځې یې هم ونیولې او د خپلې تفریح لپاره یې ښځې یوه میداني ته را ټولې کړې او یو بل سره سوک وهلو ته یې امر ور باندې وکړ. په پای کې یې د اورګنج ښځې او نارینه د مغلو لښکر باندې وویشلې چې ټول یې لکه د پسونو رمه له چړو تیر کړل. په دې توګه د منځنۍ آسیا درېیم لوی ښار له خپلو ټولو اوسېدونکو سره یو ځای د نړۍ له مخې پوپنا شو. له دې وروسته د خوارزم کنډوالې د سرپورته کولو نه وې او د مغلو تر اداري (د جوجي او د هغه د اولادو) لاندې پاتې شوې. ترڅو چې امیر تیمور ګورګاني په څوارلسمه پېړۍ کې د ماوراالنهر د پراخه سلطنت یوې وې برخې په توګه خپل واک لاندې راوست. د ګورګانیانو د دولت له نړېدو وروسته، یو ځل بیا په شپاړسمه پېړۍ کې د محمد شیباني په لاس اوزبکیه دولت په ماوراالنهر او خوارزم کې جوړ شو او د شیبانیانو یوې برخې په خوارزم کې د یوه خپلواک دولت په جوړولو لاس پورې کړ چې تر نولسمې پېړۍ پورې یې دوام وکړ. سره له دې چې په ۱۷۴۰ کې د لنډې مودې لپاره نادر شاه افشار هم خوارزم لاندې کړی و. خو د خوارزم د حکمرانانو لړۍ له منځه نه وه تللې او وروسته تر یوه کال څخه یې د نادر شاه واکمنې پای ته ورسوله او خوارزم د دوی تر واک لاندې راغی. دا په نولسمه پېړۍ (۱۸۷۲) کې و چې خوارزم د تزاري روسیې د امپراتورۍ یوه برخه شوه او بیا په شلمه پېړۍ کې د شورایي سوسیالستي دولت په زمان کې د یوه جمهوریت په توګه د خیوا او ترکمنستان په نومونو ودان او په پخوانی خوارزم کې را جوړ او برقرار شول.

## ج) په ایران کې

کله چې چنګیز خان ماوراالنهر ته ورسید، خپل دوه نامتو منصبداران جبه نویان او سبتای بهادر یې له درې تومانه عسکرو (۳۰ زره عسکر) سره د سلطان محمد نیولو په نوم ایران ته ولیږل. دغه لښکر د افغانستان د شمال مغرب ولایتونو له لارې وړاندې لاړل او له طوس څخه وروسته دوه برخې شو او مخ په ری روان شول یوه برخه یې د دامغان او سمنان له لارې او بله یې د مازندران له لارې. دغو دواړو لښکرونو د عجم عراق او آذربایجان پلازمینې لوټ کړې. ری، قزوین، همدان، امل، دامغان او سمنان کې ډېرې وژنې وشوې او خلکو ته مالي زیان واړول شو. د خوارزم د لښکرو پاتې برخه په همدان او ابهر ترمنځ سیمو کې له منځه لاړه. د لاریجان او لال کلاوې چې د ملکه ترکان او د خوارزم د شاهي کورنۍ د پټېدو ځای و په ځلورو میاشتو کې ونیول شوې او شاهي کورنۍ د مغلو لاس ته ورغله او په همدغه ۱۲۱۹ کال کې چنګیز خان ته ور واستول شوه. چنګیز د خوارزمشاه ټول نارینه ماشومان او هغه چې شیدې یې خوړې هم ووژل او شاهي ښځو، نجونو او په خپله ملکه ترکان ته یې وویل چې په ورځو ورځو به د مغلو د لښکر په مخه کې په پښو مزل کوي او د خوارزمشاه د دولت د نړېدو په ویر دې کوکارې وکړي، وروسته بیا چنګیز دوی مغلستان ته ولیږلې او خپلو افسرانو ته یې ورکړې. د سلطان جلال الدین حرم او عایله هم په همدې برخلیک اخته شوه.

د مغلو لښکر د تبریز ښار پرته له کوم جنګ څخه ونیو او په مراغه او تجوان کې یې مرګونه وکړل. بیا

Scanned by CamScanner

نو مخ په قفقاز روان شو چې د ګرجستان د رسالو (کنډکونو) له ماتولو وروسته د دربند له لارې روسيې د جنوب سيمو ته ورغلل. مغلو په دغو سيمو کې د ولګا او دانيوب د سيندونو ترمنځ د الان سارايي کېږدۍ ميشتي ترکان مات او خان ته يې تابع کړل او دې پسې وروسته مخ په کريميا ورغلل دا مهال هغه روسي اميران هم و ټکول شول چې د کومان د قبايلو مرستې ته راغلي وو. له دې امله چې روسيې نيول د مغلو په نقشه کې نه و، نو ځکه دغه لوی هېواد روغ پاتې شو، خو بيا هم دغه مصئونيت ډير مهال پاتې نه شو، دا ځکه چې په ۱۲۳۷ کې د مغلو ۱۵۰ زره سرتيري د کريميا د تاپو وزمې په نيولو بريالي شول چې دا د ارال خواو شا سيمه وه او د ولګا تر غاړو يې روسيې واکمن له واکه وغورځول او د ولاديمير او مسکو ښارونه يې وسوځول. همدارنګه مغلو اوکراين لوټ او ويجاړ کړ او په ۱۲۴۰ کې يې کيف هم ونيو او ټوله روسيه يې تابع کړه. د مغلو د پوځ د سرو زرو خانانو هم په ۱۱۳۸۷ کې يو ځل بيا په مسکو يرغل وکړ او دغه ښار يې و سوځاو. لويه روسيه دوه پيړۍ د قبچاق مغلو تر واک لاندې پاتې شوه. د څوارلسمې پيړۍ (۹۱- ۱۳۹۵) په وروستيو کې د امير تيمور ګورګاني يرغلونو د مغلو د سرو زرو لښکرو (د چنګيز زوی جوجي او د هغه اولاد) د قبچاق په دښتو کې مات او درې ورې کړل، خو دغې لړۍ بل ښاخ په قازان کې برحال او په واك کې پاتې شول، ترڅو چې د شپاړسمې پيړۍ په پای (۱۵۱۹) کې له منځه لاړل او د دوی نورې څانګې په کازيموف (په اولسمه پيړۍ کې قاسيموف او کريميا) او استراخان کې په اتلسمه پيړۍ کې يو په بل پسې له منځه ولاړې او دغو ځايو کې د روسيې واکمنی ټينګه شوه.

د روسيې له نيولو وروسته مغل په ديارلسمه پيړۍ کې د مغلو يو دوه سوه زريز لښکر لهستان باندې يرغل وکړ او په ۱۲۴۱ کې يې د لهستان او آلمان څلور سوه زره عسکر و ټکول د بروسلو ښار يې ونيو او تر برلين او ساکس پورې ورسيدل. د مغلو بلې ډلې مجاريان مات کړل او د بودا پست ښار يې ونيو او د ادرياتيك تر غاړو او د ويانا تر ښار پورې ورغلل، په دې توګه د مغلو د راتګ انګازې ټوله اروپا په ويره کې واچوله. همدا مهال د لوی خاقان اوګتای د مړينې خبر په اروپا کې خپور شو او د مغلو د اردو قوماندان شهزاده باتو له خپل نامتو جنرال سبتای او نور لښکر سره د اروپا کار پرېښود او بيرته آسيا ته راستانه شول، دا ځکه چې باتو مجبور و چې د نوي خاقان د ټاکنې لپاره د مغلو په لويه جرګه کې ګډون وکړي. په دې توګه روسيه د مغلو او لويديځ اروپا ترمنځ د يوه ديوال په توګه پاتې شوه. د مغلو عسکرو چې کله ايران ونيو او د اتابکان، جنوبي ايران، د کاما د بلغار قوم ورته تابع شول نو د ارال او يغور قبيلي او خانخالي ترکان له ايلي لارې څخه بيرته د مغل هېواد ته راغلل، نو په دې توګه فشار کم شو او د ايران هېواد کې ډير لوټ، تالان او وژنې و نه شوې، آن دا چې د ايران جنوب بيخي روغ پاتې و.

د چنګيز له مړينې وروسته په مغلستان کې اوګتای پرتخت کيناست، په ۱۲۲۸ کال کې بيا مخ په ختيځ او لويديځ د مغلو د لښکرو سوقيات پيل شول. په دې لړ کې د جرماغون نويان په مشرۍ پنځوس زره سرتيري او پنځوس زره حشري ډله د سلطان جلال الدين د ټکولو په خاطر ايران ته وليږل شول چې بيا يې جلال الدين ته په موقان کې ماته ورکړه، جلال الدين لومړی اورومیه ته او بيا بکرسيمې ته و

Scanned by CamScanner

تېښتید. له ایوبي پاچاهانو ملك الاشرف او ملك المظفر څخه یې مرسته وغوښته. خو هغوی و نه منله، دا مهال د مغلو لښکر پر سلطان جلال الدین یرغل وکړ. هغه له ماتې سره مخامخ او میا فارقین ته ولاړ چې په ۱۲۳۰ کې د کردانو په لاس ووژل شو
د مغلو لښکر دوه ډلې شو او په وار سره یې د یار بکر. ارزنته الروم، میا فارقین. ماردین، نصیبین او موصل د فرات تر غاړو پورې او همدارنګه د تبلیس ښار او اخلاط کلا و نیول او تول یې لوټ کړل دغو سیمو کې یې ډیر خلك ووژل او په ۱۲۳۱ کې یې مراغه او اربل په ایران کې وتړکول او تبریز یې بې له وینې بهولو ونیو. له هغه وروسته شمالي ایران په افغانستان کې د واکمنو مغلو په لاس چې زیاتره د هېواد په شمال لویدیځ کې په واك وو، اداره کید او د جنوبي ایران سیمه ییز چارواکي د مغلو تر امر لاندې کار کاو تر څو چې په ۱۲۵۴ کې د منګوقا آن وړور هلاکو له یو سل او شل زره لښکر سره ایران ته ورسید او د الموت او د اسمعلیانو یو شمیر نورو کلاوو په نیولو سره چې شمیر یې له سلو زیات وو، اسمعیلي یو سل او.اوه اویا کلن حکومت رنګ کړ. دغه حکومت هسې هم فاسد حکومت ګرځیدلی و، اسمعیل پاچا رکن الدین خورشاه سره له دې چې په خپله تسلیم شو او د منګو قا آن دربار ته ورغی، خو بیا هم هغه له خپلو خویندو، ورونو، زامنو، کورنۍ او نورو زرګونو اسمعیلیانو سره یو ځای ووژل شول د قهستان په تولوژنه کې ۱۲۰۰۰ اسمعیلیان له منځه لاړل او د الموت نامتو او ګرانبیه کتابتون د هغې له ځار ځای او نجومي اسبابونو سره یو ځای د مغلو لاس ته ورغله خو د هغې یوه برخه د خواجه نصیر الدین طوسي په مرسته وژغورل شوه.
په ایران کې د اسمعیلیه فرقې مهم مرکزونه د تالقان غرونه او د الموت سیندو چې په دغو سیمو کې له پنځو سو څخه زیاتې کلکې کلاوې جوړې شوې وې، چې یوه یې د الموت (د اسمعیلي چارواکو او لاربښوونکو پلازمېنه) وه او بله مهمې د میمون دز کلا وه. د الموت سیند د قزوین د ښار شپږ فرسنګه واټن کې و د اسمعیلیانو یو نیم سل نورې کلاوې په سمنان، دامغان او قهستان کې وې. د هرې کلا حاکم ته به محتشم ویل کیدل د هلاکو د یرغل پر مهال د قهستان محتشم ناصرالدین عبدالرحمن و چې یو فاضل او علم پالونکی سړی و چې د حکمت او فلسفې کتابونه یې له عربي څخه په دري ژبه ژباړلي وو. خواجه نصرالدین طوسي چې په میمون دزکې د خورشاه د دربار مامور و، خپل (اخلاق ناصري) کتاب یې د همدغه محتشم یعنی د قهستان د کلا د حاکم په نوم تالیف کړی و. د اسمعیلیه د طریقې موسس حسن صباح و چې یو فاضل، فعال، هوښیار او با همته شخص و. نوموړی د ملك شاه سلجوقي پر مهال په پنځلسمه پیړۍ کې سر پورته کړ، بیا مصر ته ولاړ او فاطمي شو، بیرته را و ګرځید چې ډیر غښتلی زیات شمیر پیروان یې و موندل، دا مهال یې الموت کلا خپله پلازمېنه کړه او جنګي وسایل یې ورته چمتو کړل ورو ورو یې په البرز، قهستان او عراق کې هم کلکې کلاوې جوړې کړې او په سیاست کې یې په ښکاره ډول لاسوهنه پیل کړه. حسن په حیرانوونکی ډول څو فدایي ډلې جوړې کړې او د اړتیا پر مهال یې یو شمیر چارواکي او واکمنان ترور کړل. د هغه فدائیانو د سلجوقي دولت نامتو وزیر خواجه نظام الملك طوسي ووژه او سلطان برکیارق سلجوقي یې تېپي کړ. په دې توګه واکمن او پاچاهان

Scanned by CamScanner

یې په ویره کې واچول.
نور نو بل هیڅ دولت و نه غوښتل چې د اسمعیلیانو د ټکولو او له منځه وړلو لپاره کوم ګام اوچت کړي حسن صباح ددغه ویرونکی واك تر سیوري لاندې وکولای شول چې د مذهب او زهد تر نقاب لاندې د اسلام د احکامو په تفسیر، معنا کولو او تاویلاتو لاس پورې کړي او یو شمیر مذهبي کتابونه تدوین کړي. له دې امله چې هغه د ظاهر لپاره باطني شرع باندې هم پوهید نو ځکه د هغه پیروانو هغه ته باطنیه نوم ورکړ. هغه الموت کې یو لوی کتابتون جوړ کړ او د یوه علمي کانون بنه یې ورکړه. داسې ویل شوي دي چې د حسن مسلکي واك دومره و چې خپل دوه زامن یې د شرابو د څښلو په سزا یعنی دده له طریقې څخه د سرغړونې په جرم اعدام کړل. په ۱۱۲۳ کې د حسن صباح له مړینې څخه وروسته د هلاکو تر راتګ پورې په ایران کې د صباح اوه تنه ځای ناستو حکومت وکړ چې لومړنی یې (کیا بزرګ امید) او وروستی یې (رکن الدین خورشاه) و. ددغې مودې په ترڅ کې الموت د اسلامي فرهنګ له پلوه ډیر اوچت او د سیاست له پلوه د نور اسلامي هېوادو د ویرې اسباب و، آن دا چې امیر المومنین (د بغداد عباسي خلیفه) د حج په لاره کې د اسمعیلیه پاچا بیرغ د خوارزم د شهنشاه تر بیرغ مخکې رپولی وا و د خپلو سیاسي مخالفینو د ټکولو لپاره یې د الموت له فدائیانو رسته غوښتله. په هر حال؛ مغلو نه یواځې دا چې اسمعیلیان له واك څخه و غورځول، بلکې په ۱۲۵۹ کې یې د اسمعیلیانو د شام پلازمېنه هم و نیوله. وروسته بیا د مصر دولت هم همداسې وکړل او په ۱۲۷۲ کې یې په لبنان او شام کې د اسمعیلیانو ټولې ځالې ونړولې، په دې توګه ددغې ډلې فعالیت په ټپه ودرید).
په دې توګه د ایران سیاسي یووالی د هلاکو خان په لاس تر لاسه شو چې وروسته د ایران مغلي خپلواك دلت جوړ شو او تبریز یې مهم سیاسي او اقتصادي مرکز و ګرځید. هلاکو نه یواځې دا چې ایران له سیاسي پلوه په پښو و دراو بلکې د بغداد له نیولو وروسته او په کوچنۍ آسیا کې یې تر ځای پر ځای کیدو وروسته، ایران په ټول نژدې ختیځ کې خپله پلازمېنه وګرځوله او له همدې ځایه یې د افغانستان مغل هم تر واك لاندې راوستل. په ایران کې د مغلو دغه واکمني ددې لامل شوه چې د افغانستان نامتو علمي خیرې لکه خواجه نصیر الدین طوسي او د جویني نامتو کورنۍ خپل ټول لیاقت او پوهه د ایران د مغلي دولت په واك کې ورکړې، دا ځکه چې دا مهال افغانستان په بشپړ ډول په کنډواله بدل شوی و. کله چې په ۱۲۶۴ کې هلاکو مړ شو، د هغه پر ځای (آباقا آن) کیناست چې له اسلام سره مخالف او له عیسویت سره جوړ و، نو په دې توګه د ایران د ویجاړتیا وو د بیارغاونې فرصت له دې سره هم له لاسه و نه وت او ایران کې د رغاونې ډیر کارونه وشول او د جوینې کورنۍ ددغه هېواد په ترقي کې ډیرې هلې ځلې وکړې. ددغه هېواد پلازمېنه تبریز دومره آباد شو، چې کلنی مالیات یې اتیا تومانه چې له اته لکه سکې سره برابر و، کیدل. د اباقا آن پر ځای د (تکودار) وار را ورسید چې په ۱۲۸۲ کې یې د اسلام دین و مانه. دده دغه کار د خلکو او دولت ترمنځ واټن له منځه یوور، خو مغلي متعصبینو یو څه غبرګون څرګند کړ، د بېلګې په توګه د افغانستان مغلي حاکم امیر ارغون پاڅون وکړ او تکودار (چې په سلطان احمد مشهور شوی و) یې له منځه یوور او په ۱۲۸۳ کې یې خواجه شمس الدین جویني د هغه له کورنۍ

سره له منځه یوړې، یهودي سعدالدوله د همدې سړي وزیر و چې مسلمانانو سره یې ډیر کلك او بد چلند غوره کړ. ده د افغانستان د لویدیځو سیمو د ۲۰۰ تنو یو لست جوړ کړ او یهودي نجیب الدین ته یې دنده وسپارله چې خراسان ته ولاړ شي او دغه ټول ۲۰۰ کسان ووژني. خو دا سې و نه شول. خپله ارغون مړ شو او خلکو هم سعدالدوله مړ کړ.

په ۱۲۹۰ کال کې د ارغون تر مړینې وروسته د هغه پر ځای کیخاتو کیناست هغه یو ډیر لګښت کوونکی سړی و چې د هیواد ټوله مالیه (چې ۱۸۰۰ تومانه او هر تومان لس زره سکې و) په تجمل ولګوله او د دربار لګښت یې له څلویښتو تومانو څخه ۱۷۵ تومانو ته لوړ کړ. له دې امله چې د دولت خزانه تشه شوه. نو کاغذي پیسې (چاو) یې په زور سره رواج کړې، دا مهال د خلکو کرکه را وپاریدله او کیخاتو په ۱۲۹۴ کال کې د هلاکو د لمسي (بایدو خان) په لاس ووژل شو. د شمالي افغانستان حکمران غازان خان چې د شیخ صدرالدین بن شیخ سعدالدین جویني او د عطا ملك جویني د زوم په بلنه په ۱۲۹۴ کې مسلمان شوی و او د محمود نوم ور باندې کیښودل شوی و. ایران ته ولاړ. بایدو خان یې مړ کړ او په خپله پاچا شو. دغه سړی په ایران کې د اسلام دین رسمي دین وګرځاو او په مغلو باندې یې د هغه منل حتمي کړل. د غازان خان پر مهال مالي، قضایي او د دفتر چارو سمون و موند، قوانین جوړ شول او د ایران وزنونو، مقیاسونو او مسکوکاتو هم یووالی و موند په ایران کې غازان د یوه با تدبیره پاچا په توګه واك و چلاو. ددغه پاچا پر مهال د ایران دولت دومره کلك او خپلواك شو چې نور نو په (خانبالغ) کې د مغلو ستر دربار د مخکښ او مشر په توګه نه پیژندل کید، خو یوه نیمګړتیا یې وه چې هغه په مذهب کې ډیر کلك تعصب و. ده د نورو مذهبونو په پلویانو ډیر زیات فشار راوړ او د مصر او شام له مسلمانو مشرانو سره هم په جګړه کې بوخت شو چې په پایله کې ناکام شو. غازان لښکر ته اقطاع و ټاکل او د اقطاع خاوندانو ته یې دا حق ورکړ چې رعیتونه پخوانیو سیمو ته وروګرځوي او کار ورباندې وکړي. اقطاع د مالك تر مړینې وروسته د هغه ورثه ته ورکول کیدل، که ورثه به نه و، نو غلام ته او که غلام یې هم نه درلود د هغه نژدې خلکو او مرسته کوونکو ته وسپارل کیدل، خو د پلورلو حق چا نه درلود.

په ۱۳۰۳ کې د غازان له مړینې وروسته د هغه ورور محمد اولجایتو چې د شمالي افغانستان حاکم و پاچا شو. هغه په ۱۳۱۵ کې و مړ. د هغه پر ځای د هغه زوی ابو سعید چې د افانستان حاکم و په ۱۳۱۷ کې پاچا شو. دا مهال ابو سعید بې تجربې او خام سړی و، نو ځکه د مرکزي دولت ځواك مخ په ځوړ شو او ورو ورو ملوك الطوايفي را څرګندې شوې. په پای کې وروسته تر اتیا کلونو څخه د ایران ایلخاني دولت په څوارلسمه پیړۍ کې خپل ځای څو بیلا بیلو سیمه ییزو واکمنیو ته ور پریښود لکه د عراق د جلایرو حکمراني، د آذربایجان د شنو حکمراني، د فارس او یزد مظفري حکمراني، د فارس او لرستان د اتابکانو حکمراني، تر څو چې په همدې پیړۍ کې امیر تیمور کورګاني را ورسید او دغه ټولې حکمرانۍ یې له منځه یوړې. له دې څخه وروسته ۴۵ کاله نور ایران د تیمور د اولادونو تر واك لاندې پاتې شو. وروسته تر هغه سل کاله نور د یو شمیر سیمه ییزو حکمرانانو (د سیاه ګوسفند او سفید

Scanned by CamScanner

ګوسفند ترکمانو او نورو) په لاس اداره کېد، تر څو چې په شپاړسمه پېړۍ کې صفوي دولت رامنځ
شو او د ایران یووالی یې یو ځل بیا ډاډمن او خوندي کړ.

## د) په نژدې ختیځ کې

منځنۍ آسیا باندې د مغولو د یرغل پر مهال، د نژدې ختیځ سیاسي او اداري وضعیت پېچلي او ګډوډ
و. د عباسي او اوه دیرشم خلیفه المستعصم بالله پر مهال په بین النهرین کې خلکو په فقر او ظلم کې
ژوند کاو، د دولت اداره خرابه وه او خلیفه ټوله ورځ په عیاشي او تفریح بوخت و. هغه اوه سوه ښځې او
یو زرو دوه سوه خادمان په خپل حرم سرای کې درلودل او د سرو او سپینو زرو د خزانو لرونکی و چې
ټول د مغلو لاس ته ورغلل. د دولت لوی لوی وزیران او افسران لکه موید الدین محمد بن علقمي وزیر
او د دارالخلافه د شپیته زرېز لښکر مشر او شرف الدین اقبال شرابي او علا الدین التون د دولت لوی
مشر او مجاهد الدین د دولت دوهم مشر چې یو بل سره د جا طلبي او شخصي غرضونو پر سر په رقابت
او سیالۍ باندې اخته وو، آن دا چې ابن علقمي چې د خلافت وزیر و په پټه یې له هلاکو سره جوړ جاړی
وکړ او هغه ته یې د خلافت د نړولو لپاره او د بغداد نیولو په خاطر بلنه ورکړه، چې د همدې خیانت په
پایله کې وروسته له هغه چې بغداد د دښمن په لاس و نړول شو. نوموړی د عباسي دولت د پلازمینې په
کنډوالو باندې د وزیر په توګه و ټاکل شو.

د روم (کوچنۍ آسیا او اناتولیې) د سلجوقي دولت حالت هم د بغداد له حالت څخه چندان ښه نه و. د
سلجوقي دولت وزیر سلیمان بن علي پروانه دیلمي خپل هېواد ته د خیانت کولو په برخه کې له ابن
علقمي څخه کم نه و. پروانه هغه څوک و چې سلطان رکن الدین قلیچ ارسلان سلجوقي یې وواژه او د هغه
څلور کلن کوچنی زوی یې د نوم او د خپلو شخصي غرضونو په خاطر پاچا کړ په بای کې یې ټول هېواد د
مغلو تابع و ګرځاوه. خو د هغه مغلي دوستانو په هغه باندې سیاسي شك پیدا کړ او هغه یې لکه د پسه
په شان حلال کړ او ټوټه یې کړ او له غوښې څخه یې ښوروا جوړه او ویې خوړله. په مصر، شام، حلب،
موصل، حران او رها کې هم د ایوبي پاچاهانو او شهزاده ګانو (الملك الکامل، الملك الاشرف، الملك
المعظم، الملك المسعود او نورو) ویشل شوي دولتونه هم یو بل سره اخته وو، همدا چې وخت به په
لاس ورغی د یوې ټوټې ځمکې د تر لاسه کولو په خاطر به یې یو پر بل ګوزارونه کول. د حلب پاچا الملك
الناصر یوسف نه یوازې دا چې هلاکو ته انقیاد و کړ بلکې له هغه څخه یې نظامي مرسته هم و غوښته تر
څو د خپل حکمران د کورنۍ باندې یې په میا فارقین، کیفا، حماه او حمص کې بریالیتوب ومومي. د
موصل پاچا الملك الرحیم بدرالدین لؤ لؤ د هلاکو په پلوي داربل د نیولو لپاره خپل دماغي او نظامي
ټول قوت په کار واچاو، د لؤ لؤ زوی الملك الصالح د هلاکو د لښکر غړی شو تر څو میا فارقین ونیسي
او د بکر، رها، نصیبین او نورو سیمو په نیولو کې یې هم ورسره مرسته وکه، تر څو چې داسې ورځ را
ورسیدله چې د هلاکو په فرمان په لیمخي او وازده کې و نغاړل شو، لمر ته یې واچاو، لیمخي او وازګي
چنچي وکړل او چنجیو د هغه غوښتي وخوړې. کله چې په عراق کې عباسي خلیفه المستنصر د مغلو

خطر احساس کړ، نو هڅه یې وکړه چې له مصر څخه مرسته تر لاسه کړي نو ځکه یې د هغه ځای له پاچا الملك الکامل څخه نظامي مرسته و غوښته. ملك کامل چې د ایوبي کورنۍ تر ټولو ځواکمن پاچا و، د لنډ وخت لپاره یې دغه وړاندیز ومانه او ایوبي نورو پاچاهانو لکه الملك الناصر الملك الاشرف او د روم له سلجوقي سلطان کیقباد سره یو ځای شام ته راغلل تر څو له عباسي خلافت سره په اتفاق کې د مغلي یرغل په وړاندې د دفاع تدابیر ونیسي. خو په عمل کې دا کار ونشو. ملك کامل له مغل سره د مقابلې پر ځای د ایوبي یوه پاچا ملك مسعود د بکر ځمکې ونیولې او بیرته مصر ته ستون شو.

په عمومي توګه د نژدې ختیځ اسلامي دولتونه چې له دوو خواوو دښمن سره مخامخ وو یعنی له لویدیځ لوري څخه د اروپا صلیبیانو او له بلې خوا د آسیا مغلو ټکول، د ډیرو وتلو، زړورو او نامتو څیرو په لرلو سره سره بیا هم د خپل سیاسي فساد او سازماني ګډوډۍ له امله مخ په ځوړ شول. دا لاملونه برسیرن لاملونه وو. اصلي لامل دا و چې د دوی تر واك لاندې لوی عظیم ملت یعنی عامه وګړي د دوی تر ظلم، تیری، بې عدالتي او چپاول لاندې وو او له دوی څخه ټول ملت خپه و او ټول خلك یې ربړولي وو، خو حاکمه طبقه په عیش او نوش کې وه. دولتي رهبران به زیاتره بې کفایته او دښمن ته به تسلیم کیدل، په داسې حال کې چې خواریکښه خلکو به له خپل وطن او خپلواکۍ څخه دفاع کوله، په تیره بیا مذهبي عقیدې به دغه د خلکو قوت پیاوړی کاو. د بېلګې په توګه دغو خلکو د یو پوخ تدبیر لرونکي لارښود یعنی صلاح الدین ایوبي په مشرتابه د اروپا ټول صلیبي قوتونه مات کړل. خود مغلو په یرغل کې داسې څه و نه لیدل شول، نو ځکه د هغوی سوبې په نژدې ختیځ کې پر مخ ولاړې، تر څو چې د مصر نوی پاچا امیر سیف الدین قدوز چې په ملك المظفر مشهور و، پاڅید او د خلکو لارښوونه یې په غاړه واخیسته. دغه سرې د مغلو د سوبمن سل زره لښکر چې یو کال مخکې یې بغداد نړولې و، په ۱۲۵۹ د عین جالوت (فلسطین) په سیمه کې له منځه یووړ او د دښمن سپهسالار (کیتوبوقا) یې بندي کړ، همده شام و ژغوره او مصر یې د تل لپاره د مغلولو له تیرې څخه وساته. همدارګه تر ۱۲۷۷ پورې الملك الظاهر بیبرس بندقدار د مغلو ایراني لښکر ته په حران، شام او د فرات او ابلستین په غاړو کې ماتې ورکړه. امیر سیف الدین قلاوون اتقي (الملك المنصور) چې د مصر او شام پاچا و، په ۱۲۸۱ کې د مغلو ۸۰ زره لښکر چې د ایران د مغلي پاچا (اباقا) د ورور (بامنکو تیمور) په مشرۍ راغلی و، په حمص کې مات کړ، له دې وروسته شل کاله نور هم مغل د شام په فکر کې نه شول. الملك الناصر محمد هم په ۱۳۰۲ کې د ایران غازان خان ته د (مرج الصفر) په سیمه کې کلکه ماتې ورکړه په دغه جګړه کې غزان له خپلو نوی زره عسکرو څخه ډیر شمیر له لاسه ورکړل او لس زره یې بندیان شول او د هغه شل زره آسونه هم ونیول شول. د هندوستان غوري دولتونو هم لکه د مصر او شام په شان څو ځله د مغلو یرغلونه د سند، پنجاب او ملتان او لاهور له شاو خوا څخه مخ په افغانستان را و ګرځول او هندوستان ته یې پرې نه ښودل چې هلته خپله پښه ټینګه کړي. په هر حال، په نژدې ختیز کې د مغلو د لښکر لومړني یرغلونه په ۱۲۳۰ کې پیل شول، د مغلو نامتو قوماندان جرماغون چې په خپلو سلو زره لښکر سره یې په ۱۲۲۸ کال کې سلطان جلال الدین په ایران کې ورك کړی و، په ۱۲۳۰ کال کې یې د دوو لښکرو په

لیږلو سره د میا فارقین، دیار بکر، ارزن الروم، ماردین، نصیبین او موصل ښارونه تر یرغل لاندې راوستل، همدارنګه یې په بتلیس ښار او د اخلاط په کلا او د هغو شاوخوا و څېل او بیرته ستون شو دوه کاله وروسته سلطان علاؤ الدین کیقباد سلجوقي د یوه سفیر په ورلیږلو سره په ۱۲۳۲ کال کې اوکتای خان ته دا وښودله چې د مغلو د دولت تابعداری مني او په خپله ددې پر ځای چې مغلو سره جګړه وکړي له ایوبي شاهانو سره یې مقابله شروع کړه او د اخلاط سیمه یې له ملك اشرف ایوبي څخه ونیوله او رها او حران یې لوټ کړل. مغلو په ۳۵- ۱۳۳۲ کې دوه ځله د بغداد د نیولو په موخه لښکر او عسکر ولیږل، لومړی ځل فرات ته نژدې د عباسي لښکرو له خوا ماتې سره مخامخ شو، په دوهم ځل یې د عباسي خلیفه لښکرو ته ماتې ورکړه او بیرته بریالی را ستون شو. په ۱۲۴۱ کال کې د مغلو یوه بل سردار بایجو قیصریه او سیواس ونیول او د کیقباد ځای ناستی سلطان کیخسرو سلجوقي یې خانته تابع کړ. یوه ډېره کلکه حمله او په بین النهرین باندې پریکنده یرغل په ۱۲۵۸ کال کې د ایران د مغلي پاچا هلاکو په مشري وشو. هلاکو د لښکرو په سر کې د بغداد په لوري حرکت وکړ چې د هغه مخکې د ټولو نیول شویو اسلامي ملکونو نامتو مخور روان وو لکه خواجه نصیر الدین طوسي، عطا ملك جویني، اتابك فارسي، ابوبکر بن سعد او علا الدین لولو چې د موصل قوماندان و. ددې معنا دا وه چې د اسلامي فرهنګ او نړیوال لوی تمدن یو مرکز و نړید او د نړۍ د یوه ستر پایتخت د له منځه تګ شاهدان واوسي. دوی به په خپل زړه کې هر ډول دلایل او فکرونه درلودل، خو هغه څه چې تاریخ به د دوی په اعمالو باندې قضاوت وکړي دادی چې: هر کله چې انسان ته د مرګ لاره پرانیستی وي، خو بیا هم ظلم او جهل ته غاړه ږدی دا یو لوی مسئولیت او جبن او ګناه ده.

هلاکو بغداد ته نژدې د بغداد د ښار له شپیته زره ساتونکو سره مخامخ شو، خود جګړې په ترڅ کې د اسلامي لښکر دولس زره تنه ووژل شول، نوځکه یې دښمن ته شا کړه او په دې توګه د بغداد ښار کلابند شو او دربار په ویره کې شو، وروسته تر دیارلسو ورځو کلابندۍ څخه خلیفه د هلاکو د وړاندیز سره سم خپل رعیت له دښمن سره له جهاد کولو څخه منع کړ، دې خبرې د خلکو لاسونه او پښې وتړل، دا ځکه چې ملایانو جهاد او له وطن څخه دفاع د پاچا په اجازه او امر پورې تړلې وه. خلکو همدا فتوا د دین حکم و ګڼله. له دې څخه وروسته عباسي خلیفه له دریو خلیفه زاده ګانو درې زره اشرافو، روحانیونو او د بغداد شتمنو سره یو ځای د دښمن حضور ته ورغلل. هلاکو د سر شمیرنې په پلمه د ښار ټول اوسیدونکی بهر کړل، دا مهال پنځه شپې او ورځې بغداد لوټ شو او د عباسي دولت د پنځه سوه کالو خزاني مغلو تر لاسه کړې او د ښار اته سوه زره تنو څخه سرونه پرې شول. په پای کې د خلیفه وار را ورسید، هغه له خپلو دوو زامنو او نورو ټولو خپلوانو سره یو ځای ووژل شو. په دې توګه د نړۍ یو ډېر لوی ښار له منځه ولاړ او په دغه ښار باندې د مغلو سیوری پریوت. هلاکو وروسته تردغې لوټې سوبې څخه بیرته ایران ته ستون شو او نورو سردارانو یې حله، کوفه او نجف ښارونه هم ونیول. واسطه چې له ځان څخه دفاع کوله، په هغه کې څلوېښت زره تنه ووژل شول او دغه سرداران بیا مخ په شو شترو او خزستان روان شول په دې توګه داسې ویلای شو چې د بغداد په نیولو سره د مغلو څلوېښت کلن

فتوحات او سوقیات پای ته ورسیدل ددغو فتوحاتو لمن له آرام سمندر څخه د مدیترانې تر سمندرګې پورې پراخه وه. دغه سوبه مغلو ته د میلیونونو انسانانو په وژلو او د سلګونو ښارونو په ویجاړولو او د نړۍ د یوه ستر تمدن په بربادۍ سره تر لاسه شوه.

## د مغلو یرغل او د افغانستان د خلکو دفاع

پر افغانستان باندې د مغلو یرغل د اوږدو کلونو لپاره د هېواد د اقتصادي او فرهنګي اوږدې مودې انحطاط او ګډوډۍ لامل شو. کله چې چنګیز خان ماوراالنهر ته راغی او بیا یې بخارا ونیوله خوارزمشاه له افغانستان څخه ایران ته ولاړ. جبه او ستبای له ډیرش زره لښکر سره د سلطان د پسې اخیستو په بهانه افغانستان ته راغی. له بلخ څخه زاوې ته ولاړ، په بلخ کې کومه جګړه و نه شوه. خو د زاوېې خلک چې یو ناځاپي د چنګیز لښکرو ایسار کړل. د چنګیز د لښکر مخه یې ونیوله او ډیر مړي پکې وشول. د دښمن لښکر د چنګیزخان له امر سره سم بواخې او بواخې د خوارزمشاه په لټه کې وو. نو ځکه یې د لارې په ترځ کې د ډیرو جګړو لپاره وخت نه درلود. نو همدا و. چې ډیر په بیړه تیر شول. خو د هرات په ولایت کې د پوشنګ په ښار کې د یوې کلکې دفاع سره مخامخ شول او د مغلو یو امیر دلته ووژل شو. نو ځکه مغلو په پوشنګ کې ډیر خلک ووژل او پوره لوټ یې هم وکړ او وروسته له هغو د نیشاپور له لارې ایران ته ور ننوتل. د مغلو دغه په ډیره بیړه او په منډه باندې تیریدلو په افغانستان کې ولولې را وپارولې او د هرې سیمې خلك را پاڅیدل او د هرې سیمې خلکو دفاعي ترتیبات ونیول. کلاوې یې بیا ورغولې کندې او خندکونه یې وکنیدل او د جګړې لپاره یې وسلې اتو مهمات چمتو کړل. خو له دې امله چې په هېواد کې رهبري او دولتي مرکزیت موجود نه و چې له دغه ستر قوت څخه د یوې ټاکلې نقشې له مخې د دښمن په وړاندې کار واخلي. نو ځکه هرې سیمې په یواځیتوب سره او له نورو سیمو څخه جلا جلا د دښمن د راتګ تمه کوله او کله به چې ډیر ځواکمن دښمن ور ورسید نو کوچنۍ سیمه به بې تار و مار کړه. خو مره چې مونږ ته څرګنده ده د دغو سیمو لارښوونکي لاندې کسان وو: په تخارستان کې سام سرهنګ (د تخارستان لویه کلا ډیره لکګه وه او څلور فرسنګه اوږده والی یې و)، امیر عمر په بامیان کې، ملك اختیارالدین محمد بن علي خر بوست په پېښور کې، ملك حسام الدین او ملك قطب الدین په غور کې. ملك الکتاب اختیار الملك د هرات او بادغیس ترمنځ کالوو کې ملك شمس الدین محمد جوزجاني په هرات کې. پهلوان اصیل الدین په قادس کې د پیوار په کلاوو کې، معتمدین ملك شمس الدین د تالقان په نصرت کوه کې (د مرغاب په سیمه کې)، د الغ خان افسران د ګرزیوان په کلا کې، عمید ابي پهلوان د غرجستان په کلاوو کې، امیر حبشي په تولك کې، کربر ملك په غزنین کې، اعظم ملك په ننګرهار ولایت کې. ملك شیر په کابل کې. دغور سیمه بیز امیران د غور په بیلا بیلو سیمو کې او ملك نصرت الدین بن حرب په سیستان کې

لوبې کلاوې لکه په غور کې سیفر وو. رنګ په ګرزیوان کې. اشیار، بندر او بلروان په غرجستان کې، لاغرې. سناخانه او سنګهه او نورې کلاوې له لویو ښارونو لکه مرو، نیشاپور، هرات او بامیان،

Scanned by CamScanner

سیستان او نورو سره یو ځای د نظامي استحکاماتو په بڼه جوړ شول.

د مغلو په وړاندې په افغانستان کې په عمومي توګه دوه ډوله نظرونه موجود وو: د نظر یووالی نه و، په دې معنا چې حاکمې طبقې (اشرافو، روحانیونو او سوداګرو) د جوړ جاړي غوښتنه کوله او دښمن ته د تسلیم کیدو نظر ورسره و، دغه طبقه د مغلو له ځواك څخه خبره وه، د خوارزمشاه په تیښتې او د مرکزي دولت د نه شتوالی له امله یې زړونه غورځیدلي و او خپل ځان او مال او جایدادونه یې خطر کې لیدل. خو د دغې طبقې په وړاندې عوامو او د ملت لوی اکثریت دښمن ته تسلیم کیدل لوی شرم باله او له وطن څخه د دفاع لپاره یې ځانونه وړاندې کړي وو. له همدې امله له دښمن سره په جګړه کې همغږي او انسجام نه و، همدا لامل د دښمن د زړورتیا او د خلکو د ناهیلي سبب شو. له دې سره یو ځای د کندز والي علا الملك ایران ته د خوارزمشاه له تیښتې وروسته له خپلو اوه زره عسکرو سره یو ځای له جیحون څخه ور پورې وت او ماورالنهر کې د چنګیز خان اردو سره یو ځای شو. همدغه سړي لږ څه وروسته بیا د چنګیز په پلوي د ننګرهار په ولایت یرغل وکړ او هلته یې غوري او خلیجي ځواکونه یې له منځه یووړل. د خیسار کلا واکمن ملك رکن الدین کرت هغه بل سړی و چې د چنګیز د اطاعت کولو بلنه یې ومنله. نوموړی خپل لمسي ملك شمس الدین د مغلو حضور ته ور ولیږ. د کرمان والی قتلغ خان هم چنګیز ته خپله تابعداری څرګنده کړه. د هرات والي امین الملك، د سلطان محمد اوښي او د جلال الدین خسر د مغلو له راتګ سره سم چې له شمال لویدیځ څخه را تیر شول، ځانونه ورته تسلیم کړل. د مرو والي بهاء الملك د قصه دار نجیب الدین زوی نه یواځې دا چې خپله مغلو ته تسلیم شو، بلکې د مروې د نیولو لپاره یې د مغلو لښکر هم راوست. د نیشاپور حاکم او نورو اعیانو هم د (جبه نویان وسپتای) د تیریدو پر مهال خپل بیعت له یو شمیر ډالیو او ښو سره د مغلو سردارانو ته ور ولیږه. یواځې دا نه، بلکې ګڼ شمیر فیوډالانو خپل منځي شخړي هم کولي آن دا چې په خپلو کې د سیالي له امله به یې بهرني دښمن هیر و. د مرو والی بها الملك ځکه د دښمن څنګ ته ورغی چې د هغه سیال مجیر الملك په مرو کې دده ځای نیولی و. دغه سړی د خوارزمشاه له خوا د شرف الدین مظفر مجیر الملك پر ځای د مروې حاکم ټاکل شوی و، او اوس مجیر الملك بیا د هغه ځای په مرو کې نیولی و. اختیار الدین ملك امویه چې په خپله د مغلو له یرغل څخه تښتیدلی و او مروې ته راغلی او پټ شوی و، د مروې له ترکمانانو سره چې له شپیتو زرو تنو څخه یې شمیر زیات وو، د مجیر الملك د له منځه وړلو لپاره او په مرو باندې د واك په خاطر یو ځای او لاس یې ور سره یو کړ. هغه د مروې شاوخوا کلي ونیول او د کلیوالو خلکو شپیته زره څاروي یې غلا او لوټ کړل، حال دا چې بهرني دښمن په ده پسې را روان و او مروې ته را نژدې کید. په دغه برخه کې عطاء الملك په ډیره خواشیني سره داسې لیکلي دي: «له هغو څو ویرو (اندېښنو) سره چې نړۍ یې لکه د منافقانو د زړونو په شان توره کړې وه (اختیار الدین او ترکمانانو) فتنه پیل کړه او د مروی د ښار نیول یې پیل کړل.» سلطان جلال الدین له سل زرو څخه زیات لښکر سره یو ځای، چې په پروان کې یې مغولو ته ماتې ورکړې وه، ځکه له غزني څخه پرته له جګړې مخ په سند و تښتید چې د هغه د لښکر فیوډالانو لکه امین الملك او سیف الدین اغراق، اعظم ملك او

Scanned by CamScanner

مظفر ملك د بهرنی دښمن پر خای یو بل سره و نښتل او ټول له منځه ولاړل.

زیاتره روحانیون، سوداګر او ښتمن هم په همدې ډول وو چې له اشرافو او فیوډالانو څه کم نه وو. د بېلګې په توګه کله چې چنګیز له جیحون څخه را پورې وت، روحانیونو او سوداګرو په ګډه له اشرافو سره لاس یو کړ او د چنګیز خان مخې ته ور ووتل او هغه ته یې د اطاعت په کولو سره د بلخ ښار ورته تسلیم کړ. امام شمس الدین الحارثي د مروې د ښار شیخ السلام هم همدا کار وکړ. هغه نه یوازې دا چې په خپله یې اطاعت وکړ، بلکې دمرو د جامع جومات په منبر باندې یې د مغلو پر دښمنانو لعنت ووایه او ویې ویل چې د مغلو د دښمنانو رګونه دې پرې شي. د سرخس قاضي مولانا شمس الدین هم لکه شیخ السلام تر ټولو مخکې مغولو ته بیعت وکړ. همداسې هم د نیشاپور د ښار یوه علوي روحاني د نیشاپوریانو د دفاعي چارو په هکله مغلو ته جاسوسي وکړه تر څو چې ده ته لړ څه ګټه وشي، اګر که د یو ښار د بربادي لامل هم شي. قاضي شمس الدین قزیني له ایران څخه د منکوقا آن دربار ته ورغی او هغه ته یې بلنه ورکړه چې خپل لښکر را ولېږي او د ایران په الموت کې اسمعیلیه حکومت وپرځوني، دا ځکه چې هغوی د شرع مخالف چلند کوي. همداسې وشول او د مغلو لښکر د الموت د سیند غاړو او قهستان ته ورغلل چې ددې یرغل له امله په سلګونو کلاوې ورانې شوې او په زرګونو ایرانیان ووژل شول.

په عین حال کې روحانیون هم لکه د فیوډالانو په شان په خپلو کې سره وران وو او خلك یې په مذهبي دښمنیو یو بل سره اخته کول. د بېلګې په توګه حنفي مذهبه فقهاوو په مروکې «د توکوش خوارزمشاه د حاکمیت پر مهال، د مروې د ښار جامع جومات و سوځاو. دا ځکه چې ددوی په نظر د شافعي مذهب په دود جوړ شوی و. لکه چې اسلامي هېوادونه او په خپله مرو د مغلو تر یرغل لاندې راغلل، د ښار شافعي مذهبه بقیان پاڅېدل او د مرو هغه جومات یې وسوځاو چې د حنفي مذهبو په دود جوړ شوی و. همدارنګه کله چې د مغلو لښکرو د مروې دننه لوټ او تالان کاو، د سرخس د وژل شوی قاضي طرفدارانو «هغه قاضي چې د مغلو په پلوي و خو خلکو هغه وواژه» د همدغه قاضي د کسات د اخیستو په خاطر د مغلو له لښکر څخه لا زیات د مروې په لوټ، تالان او وژلو لاس پورې کړ. په دې هکله عطا ملك جویني وايي: «د سرخس مشرانو د وژل شوي قاضي په کسات اخیستو کې دومره زیاتې وکړ ته به وایې چې د اسلام له حکمونو او له دین څخه هیڅ خبر نه دي. د مړیو ځلي یې جوړ کړل او جومات یې و سوځاو»

په ایران کې هم همداسې وشول. د اصفهان ښار ته د مغلو له ورتګ څخه مخکې لکه د مروې د ښار په شان بې اتفاقي او مذهبي اخ و ډب د حنفي او شافعي فقهاوو ترمنځ روان و. ددغو دوو ډلو د مخالفت سمبول د صاعدي او خنجدي په نومونو دوه کورنی وې. دغه تعصب دې برید ته ورسید چې په ۱۲۳۵ کې د شافعي مذهب پلویانو له مغلو څخه د اصفهان د ښار د نیولو هیله وکړه او هغوی سره یې ژمنه وکړه چې د ښار دروازې به ورته پرانیزي، په دې شرط چې د دښمن لښکر به د حنفي مذهب ټول پیروان له یوه سره ووژني په دې توګه د مغلو لښکر راغی او د دواړو فرقو مشران یې یو ځای او یو شان ته ووژل.

لنډه دا چې په داسې یو حالت او وضعیت کې د افغانستان خلك د بهرنیو له یرغل سره مخامخ شول په دې توګه د افغانستان خلك د مغلو د بې رحمه او ویجاړوونکی لښکر په وړاندې په اتلولی سره جنګیدل چې ساری یې په نړۍ کې نه و. دا ځکه د افغانستان خلکو د کوم مرکزیت له لرلو پرته او بې له دولت او ملاتړو څخه د مرګ په منلو سره خپلې وینې او خپل اولاونه د دښمن په وړاندې نذرانه کړل دغه قربانۍ د یوې دندې په خاطر او پرته له کومې هیلې وې چې د بشریت د اخلاقو یوه ډیره غوره درجه او بېلګه ده.

په هر حال چنګیز وروسته د ماورالنهر له نیولو او نړولو څخه چې د پولو له ها خوا ډاډمن شوی و، په ۱۲۲۱ کې د افغانستان خواته مخ واړاو او په دریو لښکرو سره مخ په دې خوا راغلل. لومړنی لښکر هغه سپاهیان وو چې د تخارستان د ډیر لوی ولایت یعنی له بدخشان څخه تر هندوکش پورې سیمو د نیولو او د بدخشان، ولخ او اندارب د سیمو او ښارونو د لوټ او نړولو لپاره ګومارل شوی و. دغه لښکر په داسې حال کې چې ددغو ښارونو په لوټ نړولو او دخلکو په وژلو بوخت و او د البان کلا یې ایساره کړې وه، یو نا ځاپه له پروان څخه د جلال الدین له یرغل سره مخامخ شول، زر تنه یې ووژل شول او نور و تښتیدل کله چې په پروان کې د مغلو له ماتې څخه خبر شول نو تخارستان یې ټول پریښود او مخ په ماورالنهر و تښتیدل. دوهم لښکر کې د چنګیز خان د زوی تولي تر مشري لاندې اتیا زره تنه سپاهیان وو چې د افغانستان د شمال لویدیزو هېوادو نیولو او نړولو ته ګومارل شوی و. د تولي سپاهیان د مرو، چاق او د کشك له اړخ څخه د بغشور له لارې پرمخ ولاړل، هغوی دغه ټولې سیمې له ابیورد، نسا، بارز او طوس، جا جرم، بیهق، خاف، سنجان، سرخس، زور آبد او سیستان سره یو ځای لوټ او اوسیدونکی یې ووژل، همدارنګه تولي د مروی ښار پاك نابود کړ او هرات یې هم ونیو، هغه دغه ټولې وژنې، لوټ او تباهي د دریو میاشتو په ترځ کې تر سره کړل. د جویني په وینا هغه سیمه چې د ابادي او ودانیو پرتم یې ساری نه درلود له خاورو سره برابره کړه. کله چې تولي خبر شو چې پلار یې لا هم د نصرت کوه د لوړو سنګرونو په نیولو کې پاتې راغلی، نو لاره یې بدله کړه او مخ په مرغاب ورغی او د پلار له لښکر سره یو ځای شو.

د مغلو دریم لښکر له سپاهیانو او حشریانو څخه جوړ و چې شیمر یې سل زره تنه کیده دغه لښکر په خپله د چنګیز خان تر مشری لاندې له جیحون څخه پورې وت او د بلخ د نامتو ښار په لوري پرمخ ولاړ. دغه ښار کې زیات شمیر مدرسې، کتابتونونه، د سوداګری لویې ودانۍ او لویې لویې ماڼۍ وې. چنګیز په دغه یرغل کې ۴۵ زره سپاره مغل و ګومارل چې ددغه ښار شاو خوا له خلکو، وښو، آذوقي او څارویو څخه پاکه کړي، دا ځکه چې ښار ته هیڅ ډول مرسته و نه رسیږي او هغه مهال بیا وړی خلك ډیر ژر تسلیم کیدو ته چمتو کېږي نو په دې توګه د مغلو کنډکونو هغه آباد کلي چې هیڅ ډول جنګي استحکامات یې نه لرل تر یرغل لاندې راوستل. ګڼ شمیر ښځې او نارینه یې بنیدان او د خلکو په زرګونو آسونه، اوښان، پسونه او غویان یې له څړ ځایونو څخه غلا او ځان سره یې یوووړل. ددغه سپاره لښکر د کنډکونو فعالیت د یرغل لاندې ښارونو په شاو خوا کې اته میاشتې وخت ونیو په دې موده کې

Scanned by CamScanner

هر ښار او هرې کلا، د یوې جزیرې بڼه درلوده چې له هره لوري په یوه سمندر کې را ایساره وه. په دې توګه چنګیز خان ګام په ګام وړاندې ته تر څو چې بلخ ته ورسید.

## الف) د بلخ ښار

دغه لوی ښار چې د هندوستان او مرکزي آسیا په لاره پروت و او له اتنې پیړۍ څخه وروسته ښه په پرمختګ کې و، په دغه موده کې یې نه یواځې دا چې د عربو د یرغل ویجاړي اود جګړې زیانونه جبران کړي وو، بلکې د غزنویانو پر مهال یې پرتم ډیر او چت برید پورې رسیدلی و. ښار ډیره یوه اوږده دیوال را ایسار کړی و چې اوږدوالی یې ۱۲ فرسخه و. افغانستان ته د چنګیز د راتګ پر مهال او بلخ ته د هغه په را نژدې کیدو سره، د ښار مشرانو (اشرافو، حاکمانو، افسرانو او روحانیونو او شتمنو سوداګرو) د ظالم او بې رحمه دښمن له ډیر زور او فشار څخه خبر ترلاسه کړ او ځان کې یې د دفاع ځواك او د کوم ملاتړ احساس و نه لید. دوی د ماوراالنهر د دردوونکې برخلیك په را یادولو سره د خوارزم د دولت ماتې ور په یاد کړه. دوی د بریالیتوب او نه بریالیتوب په دواړو حالتونو کې د خپل ځان اولاد او مال په هلاکت او بربادي یوه وو، نو ځکه یې په یوه غږ دا فیصله وکړ، چې که د خلاصون څه هیله وي هغه به یواځې او یواځې دښمن ته د تسلیم کیدو په حالت کې وي پرته له هغه د ټولو تباهي ده. نو دا یې و منله چې دښمن ته غاړه کیږدي. دوی له اعیانو، افسرانو، روحانیونو او سوداګرو څخه د یوې جوړې شوې ډلې په لاس ګڼ شمیر سوغاتونه سره یو ځای د چنګیز مخې ته ورغلل او هغه ته یې د خپلو ځانونو او د ښار تسلیم کیدل بیان کړل خو یواځې او یواځې د خپلو ځانونو د ژوندي پاتې کیدو ژمنه یې ور څخه وغوښته.

چنګیزخان د دوی دغه وړاندیز و مانه او بلخیانو ته یې د امن او امان وعده ورکړه، په دې سره د بلخ د ښار دروازې د دښمن پر مخ پرانیستل شوې او د مغلو سپاهیان دغه نامتو ښار ته لکه د میږیانو د لښکر په شان ور ننوتل او په ژمنه نه ولاړ دښمن د ښار مخور، سپین ږیری، ځوانان، ښځې، نارینه او ماشومان ټول له یوه سره له ښار څخه بهر او دښتو ته یې وایستل او هلته یې په لوږه او تنده کې وساتل او هر یوه د خپل ځان، د خپلو ښځو او ماشومانو د مرګ شیبې شمیرلې. په ځو لنډو ورځو کې په دغه لوی ښار کې نه ودانۍ پاتې شوه، نه ارګ او نه هم کوم کور. د بلخ له ټولو مدرسو، کتابتونونو بازار او هټیو څخه یوازې او یواځې د خاورو ډیرانو نه پاتې شول. پنځوس کاله وروسته بیا یو ځل مارکو پولو له شمالي افغانستان څخه تیر شو، هغه ولیدل چې بلخ یواځې د خاورو یوه ډیرۍ ده او بس. نور پنځوس کاله تیر شول چې ابن بطوطه افغانستان ته راغی، دا مهال هم بلخ یوه کنډواله وه. چنګیز یواځې د بلخ په لوټ او ویجاړولو بسنه و نه کړه، بلکې امر یې وکړ چې باغونه هم وسوځوي. هغه خلك یې چې له ښار څخه بهر کړي وو، هغوی یې د خپل لښکر په سپاهیانو وویشل چې ټول ووژني، په دې توګه هغو وګړو ته چې له خپل مسئولیت څخه یې سر غړولی و او خپل هیواد یې د دښمن زړه سوي ته ور پریښی و، د خپل عمل سزا ورکړل شوه، په داسې حال کې چې له دفاع کولو څخه د تسلیمي د مړینې خوند ډیر بد و.

د بلخ ښار همداسې کنډواله و تر څو چې په څوارلسمه پیړۍ کې د امیر تیمور اوښې امیر حسن ددغه

Scanned by CamScanner

ښار پخوانی ارګ (قلعه هندوان) بیر ته ودان کړ او هغه یې د خپلې واکمنۍ پلازمېنه وګرځوله. خو وروسته امیر تیمور هغه ونړوله، په دې توګه بلخ تر نن ورځې کنډواله پاتې شو، خو بیا هم سبحان قلي د بلخ یو واکمن په اوه لسمه پیړۍ کې یوه نوی مدرسه هلته جوړه کړه، تر څو چې د بلخ ځای وروسته پنځلسمې پیړۍ څخه ورو ورو او سني مزار شریف ونیو. دا ځکه چې دغه نوي ښار یو مذهبي ارزښت پیدا کړ. ددې معنا داده چې په دولسمه پیړۍ کې د یوه لیدل شوي خوب له مخې او د یوه روایت پر بنسټ د (ده خیر) په کلي کې یو قبر د امیر المؤمنین علي ابن ابیطالب په نوم جوړ شوی و. چې وروسته بیا سلطان حسین تیموری هغه له سره جوړ کړ (په ۱۴۸۱ کې) او تر نن ورځې پورې همدا د پخواني ارزښت لرغوني بلخ پر ځای یو مرکزیت ګرځیدلی دی.

## ب) د تالقان د خلکو مبارزه

چنګیز خان د بلخ له نړولو وروسته د جوزجان، فاریاب او میمنې په لوري روان شو هغه د زړګونو مدافعو خلکو په مړیو باندې تیر شو او ځان یې مروالرود (مرغاب) ته ورساو. هغه ددغسې سیمې تولې ودانۍ ونړولې. په مرو الرود کې د تالقان ښار د خپل رخت او بدلو د صنعت له امله ډیر نامتوو. ددغه ښار ارګ د (نصرت کوه) نوم درلود چې په یوه لوړه غونډۍ باندې ودان شوی و، او له نظامي پلوه یو ډیره کلکه کلا وه. کله چې د تالقان خلك خبر شول چې چنګیز د دوی په لوري ور روان شوی دی. نو د دفاع په لټه کې شول. دوی د تالقان په جامع جوماتِ کې سره را ټول شول او لوړه یې وکړه چې تر وروستۍ سلګۍ پورې به د دښمن په وړاندې و دریږي، نو بیا یې تورې جامې واغوستې او د خپل مرګ فاتحه یې په خپله په جامع جومات کې ولوسته، یو بل سره یې خدای پاماني وکړه او د ښار دروازې او ارګ یې د دښمن پرمخ وتړل او وسلې ته یې لاس کړ.

د تالقان په زړورو ساتونکو کې یوه ډله سپاره جګړه ماران او پنځه سوه تنه عیاران (ځوانمرده کاکه) هم وو. دوی خپل ژوند د خپل هېواد، شرف او دین څخه ځار کړی و. د مغلو لوی لښکر را ورسید او د نور وخت په شان یې خپل استازی خلکو ته ولیږه او د تالقان له خلکو یې غوښتنه وکړه چې چنګیز ته تسلیم شي که نه پرته له هغه به له ګوابښ سره مخامخ شي، د مغلو استازی خلکو وشاړه او په دې توګه د مغلو ښکر او سپاهیان لکه د یوه مار په شان له ښار څخه را تاو او دیره شو. د دښمن یرغل او د تالقان د خلکو ساتنه دواړه ډیر کلك وو او لا یې هم هره ورځ زیاتوالی موند د تالقان عیاران به د شپې له ښار څخه وتل او په هره څنډه کې به یې د مغلو لارو باندې چپاو ور وړ او مغل به یې وژل او د د ښمن څه مال او څاروي به یې له ځان سره وړل او د ښار په بله څنډه کې به بیرته ښار ته ننوتل. دې کار څو ورځې، اونۍ او څو میاشتې دوام وکړ. په پای کې چنګیز خان ډیر په غوسه شو او لوړه یې وکړه چې خامخا به تالقان ته ننوځي. خو دا کار ډیر ورته آسانه نو، دا ځکه چې د هغو په وړاندې دا سې خلك ولاړ وو چې له ژوند څخه یې لاس مینځلی و او د ژوند تر پایه جنګیدل.

د چنګیز زامن (چغتای، اوګتای او تولي خان) هم له خپلو بې شمیره لښکر سره له ماورالنهر او شمال

Scanned by CamScanner

لویدیز افغانستان څخه را ورسیدل او په تالقان کې پلار سره ملاترې شول. خو بیا هم ښار و نه نیول شو، دا لومړی خل و چې چنګیز د خپل بې پایه زور په وړاندې یو بل قوي ځواك لید. په منځنۍ آسیا کې هیڅ ښار د چنګیز په وړاندې ډیر نه و کلك شوی (پرته له اترار او اور ګنج څخه). خو دلته په خپله چنګیز او د هغه درې زامن له خپل لوی لښکر سره اوه میاشتې د یوې کوچنۍ کلا شاوخوا ولاړ پاتې دي او په زرګونو سپاهیان یې ووژل شول. خو لا هم خه لاس ته نه دي ورغلي. په همداسې وخت کې خبر راغی چې سلطان جلال الدین افغانستان ته راغلی او په غزني کې د دښمن په وانډې د جګړې لپاره خپل لښکر سمبالوي. نور نو چنګیز ځنډ و نه کړ او امر یې وکړ چې ټول لښکر باید لرګی تیرې او خاورې را وړي او د نصرت کوه دکلا د دیوالونو د لوړوالي په اندازه یې د دیوال خوا کې غونډۍ ور څخه جوړه کړه او د هغې له پاسه وختل او په کلا باندې یې یرغل وکړ.
په پای کې د کلا دیوال سوری شو او د کلا دروازې د دښمن لاس ته ورغلې. د کلا دننه لاس او ګریوان جګړه پیل شوه. د تالقان عیارانو او سوارانو د دښمن په لښکر مرګوني ګوزارونه کول، هم یې د دښمن سپاهیان ووژل او هم خپله ووژل شول او یو شمیر نور ووتل کله چې چنګیز ټول ښار ونیو ټول وګړي یې له یوه سره ووژل او ټول ښار بې ویجاړ کړ. دا څکه چنګیز داسې میړه نه و چې خپل زړور دښمن ته درناوی وکړي، هغه یواځې یو زورور ظالم و. کله چې چنګیز په ۱۲۲۲ کې دغه ډیره ستونزمنه سوبه تر لاسه کړه، سره له دې چې د خلکو زړورتوب یې سترګه و سوځوله. خو د افغانستان د خلکو په وړاندې یې د کینې اور په زړه کې بل شو او هوډ یې وکړ کمچیرې و توانیږي هغ ژوندی به په دغه هېواد کې پرې نه ږدي. له همدې امله یې د افغانستان ښارونه یو بل پسې ونړول او خلك یې ووژل. هغه د مغلو لښکر ته امر وکړ چې وروسته تر دې به په جګړه کې د وژل شویو خلکو سرونه هم پرې کوي. چې بیا ژوندی نه شي. چنګیز د تالقان له نړیولو وروسته د بامیان له لارې پرته له ځنډه مخ په غزني روان شو، خو مخکې له دې چې غزني ته ورسیږي، د هغه د لارې په ترڅ د ګرزیوان کلا وه، نو هغه باید دغه کلا هم نیولی وای.

## ج) د ګرزیوان د خلکو مبارزه

ګرزیوان یوه کوچنۍ کلا وه چې د هغې زړور خلك د دښمن له لوی ځواك څخه خبر وو. دوی د بلخ، جوزجان او فاریاب د ښارونو له نړیدلو او د افغانستان د شمال لویدیزو ولایتونو له عامه وژنې څخه هم خبر وو، خو بیا هم بې زړه نه شول او د خپلې کلا او سیمې د ساتنې لپاره د خپل ژوند تر وروستۍ سلګې پورې ودریدل. هغوی د چنګیز خان په راتګ سره تسلیم کیدو ته د هغه بلنه و نه منله او توري ته یې لاس کړ، په دې توګه د دوو نا برابرو ځواکونو ترمنځ یوه کلکه جګړه و نښته، چنګیز خان چې دا ګمله چې ګرزیوان به په یو څو ورځو کې ونیسي، کله یې چې د دغو لږ شمیر خلکو ځان تیریدنه او لوړ همت ولید، نو یوه میاشت یې پوره پرته له لږ هوساینې څخه شپه او ورځ جګړې ته دوام ورکړ. په پای کې یې له ډیرو تلفاتو وروسته د ګرزیوان کلا ونیوله او نر او ښځې یې ووژل، آن دا چې یو تن یې هم د بندي په توګه ژوندی ونه نیول. کلا خاورو سره برابره شوه او چنګنیز په بیړه د افغانستان زړه ته ور ننوت.

Scanned by CamScanner

## د) د بامیان د خلکو مبارزه

دا ځل یو لوی او کلك ښار (بامیان) د مغلو په مخه کې پروت و چې زیات شمیر خلکو یې ساتنه کوله په بامیان کې له لومړۍ پیړۍ څخه تر دیارلسمې پیړۍ پورې ژوند دوام درلود او د ۱۲۰۰ کلونو په ترځ کې دلته د افغانستان څو تمدنونه تیر شوي وو. د اسلام له راتګ څخه په مخکې پیړیو کې، کله چې بلخ د نړیوالې سوداګري او د آسیا د لویو لارو مرکز و (له لویدیز څخه د رومن د امپراتوري خواته، له شمال ختیز څخه د چین خواته او له جنوب ختیز څخه مخ په هندوستان). دا مهال د ګریکو بودیك صنعت د کابل او ګندهارا په سیمو او دره کې په خپل لوړ پړاو کې و چې ورو ورو مخ په باختریان (ختیز) روان و په همداسې یو مهال کې بامیان د بلخ او پېښور ترمنځ د کاروانونو د تګ-راتګ لاره وه، مخ په ترقي شو. د بامیان ډبرینې غونډۍ او د هغو اړخونه د سمڅو جوړولو او پژتوړلو لپاره ډیرې غوره وې. نو له لومړۍ پیړۍ څخه وروسته د بامیان یو شمیر بودایي جوړښتونه او سمڅې را منځته شوې او د پنځمې پیړۍ څخه مخکې دورې په ترځ کې د بامیان مجسمې چې **۳۵** متره او **۵۳** متره لوړوالی یې درلود جوړې او وتوږل شوې. د هغو جوړولو تر اوومې پیړۍ پورې دوام و موند. د عربو د راتګ پر مهال د هغو دننه زینه او د **۵۳** متریز صنم (بت) سمڅې مخ په جوړیدو وې او لا بشپړې نه وې چې د عربو یرغل سره مخامخ شول او یو څه یې ونړول شوې او لویې مجسمې هم ټپي شوې. همداسې هم په بامیان کې یو بل ډیر لرغونی ښار هم و چې د (ضحاك) په نوم یادید چې هغه هم لکه د خپل بل ورور ښار په شان بد برخلیك سره مخامخ شو.

خو ددغو لرغونو ښارونو پر ځای د اسلام له راتګ څخه وروسته د بتانو جنوب ختیز ته د غونډیو مخامخ لمن کې یو بل نوی ښار آباد شو او خلکو د غلغلې د ښار نوم ورباندې کیښود، چې اوس یې هم کنډوالو ته د غلغلې ښار وایي. د غلغلې ښار د دیارلسمې پیړۍ په بامیان کې د اسلامي فرهنګ ځانګړ او اداري مرکزو، خو په دغه پیړۍ کې چنګیز د یرغل له امله له منځه ولاړ او تر اوسه پورې یې د نښو کولای چې بیا سر را پورته کړي. یواځې او یواځې د بامیان د پخواني کمال او جمال کیسې کوي هغه د بامیان دوه لویې مجسمې دي چې دغو سړو بتانو بې له کوم زینت او سینګار په پرانیستو قبرونو کې په ولاړه غره ته ډډه لګولی ده. سره له دې چې دا هم د وختونو په ترځ کې د انسانانو له لاسوهنو او تعصب څخه بچ نه دي پاتې. هغه **۵۳** متره لوړه مجسمه چې د نړۍ تر ټولو اوچت پژ دی په اتلسمه پیړۍ کې د نادر شاه افشار د توپونو د ګولیو تر برید لاندې راغله او پښې یې ماتې شوې، په نولسمه پیړۍ کې کله چې د افغانستان د پاچا امیر دوست محمد خان ملکه له بامیان څخه تیریدله او دغه لوڅ بت یې ولید نوامر یې وکړ چې د هغې لاندنې برخه دې د توب په ګولۍ و ویشتل شي.

په هر حال، کله چې چنګیز بامیان ته را ورسید په ناهیلۍ سره یې د بامیان خلکو ته د تسلیم کیدو بلنه ورکړه، خو دغه بلنه د بامیان د ښار د خلکو له خوا ونه منل شوه، نو جګړه و نښته. د بامیان خلك لکه د تالقان او ګرزیوان په شان په کلکه وجنګیدل، چنګیز د جګړو د یوه اړخیز کولو لپاره ډیره بیړه کوله، دا ځکه چې هغه ته داسې خبر را رسیدلی و چې د سلطان جلال الدین تر مشرۍ لاندې یو نوی لښکر له غزنې

Scanned by CamScanner

تر پروان پورې را رسیدلی دي او د هغه لښکرو ته یې په دغه سیمه کې ماتې ورکړې ده او همدغه لښکرو د والیان کلا په زور سره د مغلو له کلا بندۍ څخه خلاصه کړې ده او له تخارستان څخه یې هم د مغلو لښکر ایستلی دي، نو ځکه یې په بامیان کې پر له پسې یرغلونه کول، چې د جلال الدین د را نژدې کیدو په صورت کې ورته د شا له لوري کوم ګوابن پاتې نه شي

او همداسې هم د بامیان خلك د دښمن په وړاندې کلك ولاړ وو، آن دا چې دوی د موتوجن (د چغتای زوی او د چنګیز لمسی) وواژه. چنګیز له دې امله ډیر اغیزمن شو چې خپله سره سینه یې له لاسه ورکړه، خولۍ یې له سره هیسته وغورځوله او په لوڅ سر د لښکر په مخکې مخ په ښار ورغی. د لوی خان او مغلو ته کوم توپیر نه درلود او د خپلو مړو له پاسه یې پښې کېښودې او په وړاندې تلل، ترڅو چې د دوی پیاده ټولګی لکه میږیانو د ښار په دروازو او دیوالونو ور وختل او لاس او ګریوان جګړه و نښته. په دې توګه وروسته له دغې شیبې داسې مټ پاتې نه شو چې نه وې پرې شوی او د ښار ساتنه وکړي، ښار ونیول شو او هغه وحشت او غضب چې په نړۍ کې یې ساری نه و په دغه نامتو ښار خپور شو. نارینه، ښځې او ماشومان ټول حلال شول، د ښځو نسونه یې څیرې کړل او په هغو کې یې نازیږیدلي ماشوم هم له منځه یووړ وروسته له هغې یې د بامیان پیشوګانې، څاروي او سپي هم ووژل، بیا یې ونې او بوټي له ریښو څخه وایستل او ټول شنه کیدونکی بوټي یې هم تباه کړل، ټول دیوالونه او ټولې ودانۍ ونړول شوې، ځکه چې لوی خان دا امر کړی و چې بامیان باید داسې ویجاړ شي چې نور نو له ژوند کولو ووځي او په دغې کنډوالې باندې یې د منحوس ښار (ماء و بالیغ) نوم کیښود او بیا نو مخ په غزني روان شو.

## هـ) د یو شمیر نورو ښارونو او کلاوو د خلکو مبارزه

د مغلو د جګړو په ترڅ کې نه یوازې د پورته یادو شویو ښارونو او کلاوو خلکو د خپل هېواد او سیمو ساتنه وکړه، بلکې د ټول افغانستان د هر ښار او هرې کلا اوسیدونکو په میړانه دفاع وکړه او دښمن ته تسلیمي یې و نه منله. ددغو خلکو میړانه دومره اوچته وه چې کله یو څوك د چنګیز د مهال د تاریخ لیکونکو تفصیل لولي او بیا له هغو وروسته د هغه دا خلافو د دورې پر مهال د مغلو د یرغلونو په وړاندې د افغانستان د خلکو د دفاع لیکنې ګوري نو انسان په حیرت کې لویږي. د بېلګې په توګه د ګالیون د کلا اوسیدونکو چې هرات ته په شل فرسنګه کې په یوه لوړه غونډۍ باندې جوړه وه، یو کال او څلور میاشتې د مغلو په وړاندې مقابله وکړه، تر څو چې دغه کلا یې ونیوله او له منځه یې یووړه. منهاج السراج چې په خپله د چنګیز پر مهال ژوند کاو په دې برخه کې داسې لیکي:

«... د ابوبکر دوه زامن چې د سلطان محمد پهلوانان وو د هغې کلا کوټوالان وو، اختیار الملك دولتیار طغراني د خوارزمشاهي د سیمو یو واکمن و چې دغې کلا ته راغی، نو کله یې چې له کفارو (چنګیز) سره جګړه پیل شوه، له کلا څخه غازیان او عیاران را کوز شول او جهاد یې پیل کړ یو شمیر مغل یې

Scanned by CamScanner

دوزخ ته ولیږل، شپه او ورځ د مغلو په وژلو او له کفارو څخه په دفاع بوخت شول. او د کلا د ساتونکو میړانه دومره اوچته وه چې د مغلو لښکر یې د شپې خوب ته نه پرېښود کفارو د کلا د دیوال چاپېره دوه باړې جوړې کړې او دوه دروازې یې ورته پرېښودې او د کلا مخامخ یې دوه باړې یې جوړې کړې وې چې په شپه کې به یې ټاکلي ساتونکي ګومارلي و... د مغلو د لښکر د ساتنې کار دومره کلك و چې یو کال یې کلا ایساره کړې وه خو لا هم خلکو دفاع کوله. له مغلو سره یو بل لښکر هم یو ځای شو خو د کلا اوسیدونکو ته یوه ناروغي پېښه شوه او ډېر خلك مړه شول چې په کلا کې پسته او وچه غوښه ډېره وه (په کلا کې د اوبو اوه ځاګانې هم وې) نو دغه ناروغي له دې امله پېښه شوه چې خلکو یواځې وچه غوښه، غوړي او پسته خوړله او نور څه نه و له دې امله به ددغې ناروغی له امله د خلکو پښې او سر وړسید او مړه به شول، کله چې د کلا بندي شپاړس میاشتې پوره شوې په کلا کې یواځې پنځوس تنه ژوندي وو چې په هغو کې شل تنه ناروغ او یواځې دیرش تنه روغ وو، یو تن بهر ووت او د خلکو او کلا حال یې ووایه، کله چې کفار له دې حال څخه خبر شول، ټول لښکر وسلې ته لاس کړ او مخ په کلا ورغلل او د کلا اوسیدونکو شهادت و مانه، د کلا ټول قیمتي شیان یې ځاګانو ته واچول او ځاه یې له تیږو ډکې کړې او پاتې نور شیان یې و سوځول، بیا یې د کلا ورونه پرانیستل توري یې واخیستی کفارو سره یې جګړه پیل او ځانونه یې شهیدان کړل...)

همدارنګه په غرجستان کې د شیار د کلا اوسیدونکو لکه د کالیون د کلا د اوسیدونکو په شان د ځواکمن دښمن په وړاندې یو کال او درې میاشتې جګړه وکړه ترڅو چې له منځه ولاړل، د شیار د کلا واکمني د امیر محمد مرغزي په لاس کې وه. دا هغه ځوك و چې بامیان ته له نصرت کوه او تالقان څخه د چنګیز د ورتګ پر مهال یې پر له پسې د چنګیز پر لښکر یرغلونه وکړل او له چنګیز څخه یې ډېر ځه ولجه کړل او د مغلو د لښکر ډېر ساتونکي یې ووژل او یو شمیر یې بندیان کړل. کله چې چنګیز د سند جګړه کې بریالیتوب ترلاسه او بیرته را وګرځید، نو تولي ته یې دنده وسپارله چې د افغانستان پاتې وداني سیمې ټولې و نړوي. تولي د مغلو لس زره منجنیق غورځوونکي ځان سره کړل او د شیار په کلا ورغلل، مغلو چې څومره هڅې وکړې دغه کلا یې و نه شوه نیولی، ځکه چې اوسیدونکو یې په میړانه د کلا ساتنه کوله، خو درې میاشتې وروسته نور په کلا کې هیڅ غله او خوراك پاتې نه شول، کله چې ځاروي هم خلاص شول نو دوی اړ شول چې د خپلو مړو غوښه و خوري، نو مړي به یې ټوټه کول او د هغو غوښه یې خوړله خو د دښمن په ضد یې لا هم جګړې ته دوام ورکړ. جوزجاني لیکي چې یوه مطربه ښځه له خپلې مور او یوې وینځې سره په کلا کې اوسیدله، کله یې چې د خوراك د نشتوالی له مله مېږ مړه شوه هغه یې په لوړه بیه و پلورله، کله یې چې وینځه مړه شوه هغه یې هم و پلورله او په دې توګه یې ۲۵۰ د سرو زرو ټوټې تر لاسه کړې او په پای کې خپله هم مړه شوه. په دې توګه د پنځلسو میاشتو په ترځ کې ښځې، نارینه او ماشومان مړه کیدل ترڅو چې په پای کې په خپله مرغزی او دیرش تنه نور پاتې شول همدا مهال دښمن بریالی او د شیار کلا یې ونیوله او امیر محمداو دده ملګری د مغلو تر ګوزارونو لاندې شول.

د تولك د کلا خلکو اته میاشتې له مغلو سره جګړه وکړه ترڅو چې مغل یې بیرته ستنیدو ته اړ کړل، سره

له دې چې دښمن د تولك له شاوخوا څخه ډېر خلك بنديان او ځان سره بوتلل چې په هغو کې لس زره يې ښځې وې. په قادس کې د (فيوار) د کلا خلکو سره له دې چې خوراکي توکي نه درلودل، دوه مياشتې له دښمن سره جګړه وکړه تر څو چې له ماتې سره مخامخ شول. په غور کې د (سيفرود) د کلا خلکو هم په ميړانه د وطن ساتنه وکړه سره له د چې دوی اوبه نه درلودې، له همدې امله د دوی ۲۴ زره څاروي له تندې مړه شول، خو بيا هم دښمن ته تسليم نه شول او په وسلو سره يې د دښمن په وړاندې و دريدل او دښمن پاتې راغی. د سيفرود کلا د اوبو يوه زيرمه درلوده چې د خلکو لپاره يوازې ۴۰ ورځې بس وې. د مغلو سردارانو (منکوته نوين) او (قراجه نوين) مخکې له دې چې دغه کلا را ايساره کړي، د هغې شاو خوا څاروي يې ټول ځان سره بوتلل. دغې کلا حاکم ملك قطب الدين و. هغه د سيفرود د کلا دننه ټولو اوسيدونکو ته امر وکړ چې د وښود کمښت له امله دې ټول څاروي حلال شي او د خلکو د خوراك لپاره دې د هغو غوښه وچه شي، له تندې څخه مړه شوي څاروي يې له کلا څخه بهر وغورځول، اوبه او خوراك يې په څېره کړل، هر يوه تن به په يوه ورځ کې نيم من اوبه او يو من غله تر لاسه کړې او بس، خو يوازې او يوازې د ملك د اوبو برخه يو من وه. دا څکه چې د هغه لپاره يې يو آس ساتلی و. چې د ملك اوداسه نيم مستعملې اوبه يې څښلې. په دې توګه د کلا اوسيدونکو پنځوس ورځې له دښمن سره جګړه وکړه، خو په پای کې د اوبو ساتونکو خبر راوړ چې اوبه يوازې او يوازې يوه ورځ نورې کېږي او نور به اوبه نه وي. ملك قطب الدين د کلا له نارينه وو سره د مازيګر د لمانځه پر مهال د کلا ميداني کې را غونډ شول او د جګړې او سولې په هکله يې سلا وکړ.

لکه څرنګه چې مهاج السراج ليکي چې دغې غونډې پريکړه وکړه چې له دې امله چې د څښلو اوبه نه دي پاتې، نو سبا سهار به د کلا هر اوسيدونکی خپلې ښځې او ماشومان ووژني او په خپله به له يوې تورې سره د کلا دننه پټ شي، بيا به نو د کلا دروازه پرانيستل شي چې دښمن دننه راشي، نو بيا به ټول مسلمانان د دښمن پر لښکر يرغل کوي او تر هغو به جګړه کوي چې ټول د شهادت دولت ته ورسيږي. دکلا ټولو اوسيدونکو همدا ژمنه و منله او ځانونه يې شهادت ته تيار کړل، ټولو يو بل سره خدای پاماني وکړه تر څو د ماښام د لمانځه وخت شو، خو له دې امله چې منی و له نيکه مرغه د شپې وريځ راغله واوره او باران وشو، په دې توګه د کلا اوسيدونکو نوی ژوند ومومند او بيا يې د اوبو په څښلو او زيرمه کولو پيل وکړ. کله چې د دښمن سپاهيانو دا مهال وليد نو پوه شول چې د کلا خلك به دوه مياشتې نور هم اوبه ولري او جګړه به وکړي، خو تر هغه مهال پورې به ژمی د مغلو د لښکرو لاس او پښې وتړي، نو کلا بندي يې پرېښوده او بيرته ستانه شول او د سيفرود کلا د لنډې مودې لپاره له ښمن څخه خلاصون و موند.

مغل د ژمي له تيريدو وروسته بيا راغلل او د سيفرود د کلا جګړه يې بيا پيل کړه خو دا ځل د کلا خلك تکړه شوي وو او د اوبو زيرمې يې ډيرې وی واښه او خوراك يې ډير و او دفاعي وسايل يې هم ښه پوره بشپړه کړي وو، نو دا ځل د دښمن دوه مياشتنی جګړې کومه پايله نه درلوده، داځل مغلو يوې حيلې او چل څخه کار واخيست او د سولې غوښتنه يې وکړه او د بيرته ستنيدو خبره يې هم وکړه او خلکو سره يې

در اکړې ورکړې او سوداګري غوښتنه وکړه. دوه ورځې د مغلو د لښکر او د کلا د خلکو ترمنځ پيرودل او پلورل په خير سره وشول، خو په دريمه ورځ ناڅاپه د مغلو لښکر په معامله کوونکو خلکو باندې يرغل وکړ او يو شمير يې په نامردي سره ووژل او ۲۸۰ تنه نور يې ځان سره بنديان کړل. کلا ته يې خبر وليږ چې د بيې په ورکولو سره به بنديان بيرته ور پريږدي. د کلا خلك چې ډير په غوسه و، د دښمن دغه وړانديز يې و نه مانه او د کلا په ديوالونو يې د ژرندو تيږې او ميچنې له لرګين لاستې او رسيو سره ځاى پر ځاى کړل، ټولو وسلې واخيستې او د کلا دننه او بهر پټ شول. دښمن يرغل وکړ خو دا چې چا مقاومت و نه کړه ښه وړاندې راغلل ترڅو چې د کلا د اوسيدونکو لاس ته ورغلل نو دا مهال تيږې ورباندې خوشې شوې او جنګياليو ورباندې يرغل وکړ، د دښمن ډير سپاهيان ووژل شول او بيرته په شا ولاړل او په پاى کې يې سيفرود او د هغې شاوخوا بيخې پريښودل.

په غور کې د فيروز کوه د ښار خلکو د دښمن له شل زره عسکرو سره ۲۱ ورځې جګړه وکړه ترڅو چې ژمې شو او دښمن بيرته ستون شو. همدارنګه د مغلو په لاره کې د يو شمير نورو کوچنيو ښارونو او کلاو اوسيدونکو هم د خپل ژوند تر پايه د خپلې آزادي لپاره جګړې وکړې او ځانونه يې له منځه يوړل چې له هغو کلاوو او ښارونو څخه يواځې يو څو کنډوالې پاتې شوى. جويني بې ځايه نه دى ويلي چې: (.. تر قيامت پورې به هم د خلکو يرغلونه پر دښمن دومره نه وي لکه د چنګيز پر مهال چې واو ددغو جګړو آثار به له هغو ټولو ښنو څخه څرګند وي چې روزګار يې خپل عمل په څه ډول سره په ديوالونو ليکي...) خو د افغانستان لوى ښارونه چې هر يو يې د خپل وخت د فرهنګ او تمدن او د منځنۍ آسيا د سوداګرې لوى لوى مرکزونه وو، د چنګيز په يرغل سره له څه پيښو سره مخامخ شول، دلته به يې ولولو:

## و) د مروې د ښار د خلکو مبارزه

مرو لکه نيشاپور، هرات او بلخ د افغانستان د هغه مهال يو لوى او آباد ښار و چې شاوخوا يې ډير کلي هم و او ۷۰۰ زره تنه اوسيدونکى يې لرل چې په هغو کې ۷۰ زره تنه ترکمان و، ددغې سيمې څاروي پرته له پسونو څخه له شپيتو زرو څخه زيات وو، د مروې ښار لس کتابتونونه لرل چې په يوه کې يې دولس زره کتابونه وو چې ټول يې د علومو د طالبانو په واك کې وو. يا قوت حموي چې په خپله د مغلو له يرغل څخه مخکې په مرو کې و ددغه ښار د پرتم او ستروالى په هلکه ليکي. هغه ليکلي چې ددغه ښار د شتمنو خلکو د شتمنې اندازه د چنګيز د زوى تولي په حکم ښکاره کوي وايي چې: ددغه ښار لوى شتمن او بدايان ۲۰۰ تنه وو (پرته له اشرافو، اعيانو او روحانيونو څخه). بهاء الملك نجيب الدين د خوارزمشاه په لاس د مروې په حکومت ګومارل شوى و، چې يو ډير ډارن او خيانت کار او ودې سترګې و. کله چې د (جبه وستاى) لښکر د خوارزمشاه په لټه پسې مروې ته را ورسيد، هغه له مروې وتښتيد او ډير لرې د (ياق يازر) په کلا کې پټ شو، دده پر ځاى د مرو شيخ الاسلام شمس الدين حارثي پاڅيد او د خلکو په استازيتوب يې يو شمير سوغاتونه د مغلو سردار ته ورکړل او د خلکو تابعيت يې ورته څرګند کړ او د هغو له خوا ټاکلى شوى استازى يې و مانه، په دې توګه مغل په بيړه له دې ځايه تير شول.

Scanned by CamScanner

د خوارزمشاه له مړینې وروسته په ایران کې شرف الدین مظفر مجیر الملك د مروې پخوانی حاکم بیرته را ستون شو او مروې ته راغی. هغه د ترکمانانو او نورو خلکو له ډلې څخه سپاهیان چمتو کړل او د مغلو د لښکر یرغل ته ودرید. هغه دښمن ته د تسلیمي له امله د مروې شیخ الاسلام مړ کړ او هم یې په سرخس کې د سرخس قاضي شمس الدین چې د شیخ الاسلام مرستندوی او د مغلو پلوی و د خپلو هغو لیږل شویو عسکرو په لاس مړ کړ چې سرخس ته یې لیږلي و، خو دغه مجیر الملك یو عیاش او ظالم سړی و. په خپله به یې هره شپه شراب څښل او سپاهیانو به یې هره ورځ د مروې شاوخوا د خلکو مالونه لوټول، ترکمانان یې له لښکر څخه ووتل او له اختیار الدین ملوك امویه سره یو ځای شول. په دې توګه د هغوی او مجیر الملك ترمنځ شخړې پیل شوې او په دې لړ کې خلك تر پښول لاندې شول. له دې امله چې د مروې پخوانی تښتیدلی حاکم بهاء الملك دښمن سره یو ځای شو او اوه زره د ایران مغلی سپاهیان او لس زره حشري قوت یې ځان سره کړ او مخ په مرو راغی بیا هم مجیر الملك د مغلو اطاعت ته حاضر نه شو او د مغلو استازي یې ووژل او د هغوی په وړاندې یې لښکر سمبال کړ. مغلو د مجیر الملك پر ځای بهاء الملك مړ کړ او بیرته په شا ستانه شول. په دې توګه د مروې خلکو ته د نفس ایستلو فرصت برابر شو، خو د روحانیونو تفرقه اچولو او خرابکاري دوام درلود. شافعیان او حنفیان خپل منځ کې په شخړه وو او خلك یې خپلو منځو کې په ګوندي ماري او مذهبي تعصب اخته کړي وو. په دې توګه د یو هېواد خلك یو بل سره ولویدل. ترڅو د چنګیز زوی تولی له اتیا زره سپاهیانو سره په ۱۲۲۱ کال کې مروې ته راغی هغه هم له ښار څخه بهر د مجیر الملك مخالفین وځپل او هم یې ښار کلا بند کړ. د مروې خلك له ښار څخه بهر شول او د دښمن له لښکر سره یې جګړه وکړه، خو ښه پایله یې نه وه. له دې وروسته د کلا جګړه ډیره کلکه وه، شپږ ورځې لا نه وې تیرې چې مجیر الملك او اشراف د دښمن له بري او د خپلو ګټو د لاسه ورکوله په ویره کې شول. نو ورو ورو له مغلو سره د جوړ جاړې په فکر کې شول. په دې توګه مجیر الملك له تولي خان سره خبرې پیل کړې، او د امن او امان د ژمنې له اخیستو وروسته یې ځان د مغلو لښکر ته ورساوه او د دښمن په لاس یې خلقت واغوست. تولي له هغه څخه د مروې د ښار د کارپوهانو د نومونو لست وغوښت او هغوی یې په رسمي چارو کې د ګومارلو په بهانه را وغوښتل. بیا یې ټول بندیان کړل او د هغوی په لاس یې د ښار د شتمنو خلکو او سوداګرو لست جوړ کړ او هم یې د حرفې د خاوندانو او صنعت کارانو د شمیر په هکله معلومات تر لاسه کړل، بیا یې ټول ښار ونیو. سپاهیانو د څلورو ورځو په ترڅ کې د ښار ټول اوسیدونکی بهر وویستل او تولی خان خلکو تر منځ ووژل، بیا یې څلور سوه تنه صنعت کاران جلا کړل او ځان سره یې د بندیانو په توګه بوتلل نور وګړي یې د خپل لښکر سپاهیانو باندې وویشل چې هر یو خپله برخه خلك ووژني ښار لوټ شو، قبرونه پرانیستل شول چې چا نقد او ګاڼې پکې نه وې منډلي. د کلا د دیوالونو ځلي او په خپله دیوالونه ټول ونړول شول او ودانۍ وسوځول شوې. په دغو وژنو، قتلونو او لوټ کې د سرخس د قاضي او د مروې د شیخ الاسلام پلویان د مغلو مرستندوی وروڼه وو. په دې توګه یو لوی ښار د هغه له ټولو

Scanned by CamScanner

خلکو او شتمنۍ سره پوپنا شو؛ د جویني په وینا: د تولي له تګ وروسته سید عزالدین نساله یو شمیر نورو سره یو ځای دیارلس ورځې د مروې د ښار او د هغه شاو خوا خلکو د مړیو په شمیرلو بوخت شول او دا څرګنده شوه چې ټول یو میلیون او درې سوه زره تنه وژل شوي وو، که دغه شمیر کې مبالغه هم وي بیا هم د مغلو په لاس د مروې او د هغې د شاو خوا خلکو د وژلو یو انځور ښکاره کوي. لږ څه وروسته بیرته یو شمیر خلك د مروې له شاوخوا را پیدا شول او مرو کې یې ژوند پیل کړ او د پهلوان کوچ تګین په نوم یو څوك پیدا شو او د مغلو استازی (شحنه) ضیاء الدین علي یې مړ کړ، خو ډیر ژر مغل قراجه نویان راغی او پهلوان و تښتید. په ۱۲۲۱ کې بیا یو شمیر ترکمن وګړي د یو امیر تر مشرۍ لاندې په مرو کې سره را ټول شول او کله کله به یې د مغلو په لښکر یرغل کاو، دا ځل قراجه راغی، مرو یې داسې کړه چې نور نو د هیڅ ژوندي موجود د اوسیدو نه وه او له ژوند کولو یې بیخي وویستله هغه څوك چې هلته په لاس ورتلل هغوی یې ټول په وحشیانه شکنجو او کړاوونو ووژل، بند بند یې جلا کړل او نوریې وسوځول. قراجه دغه وحشت د مرویانو د حشری لښکر په لاس تر سره کړ او یو شمیر حشریان یې له غزني څخه ځان سره راوستي وو.

ایله د پنځلسمې پیړۍ په پیل کې د افغانستان د ګورګاني پاچا شهرخ پر مهال د مروې ښار یو ځل بیا لږ څه را ژوندی شو. په هر حال، تولي د مروې د ښار له نړولو وروسته د یوه بل لوی ښار د نړولو په نیت روان شو.

## ز) د نیشاپور د ښار د خلکو مبارزه

ایران ته د خوارزمشاه له تښتیدو وروسته، د نیشاپور حکومت مجیر الملك کافي رخي (دا له مجیر الملك مروې څخه پرته بل مجیر الملك و.) ته او د هغه د مرستیال دنده فخر الملك جامي او ضیاء الملك زوزنی ته ورکړل شوې وه. نیشاپور یو ځل به ۱۱۵۳ میلادي کال کې د غز د قبیلي د خلکو په لاس وران شوی و، دا ځل د نیشاپور بیا ودان شوی نوی ښار د مغلو د لښکر یرغل لاندې راغی د (جبه وستپای) د بیرني تیریدو پر مهال لا ددغه ښار دفاعي ترتیبات بشپړ نه و، مجیر الملك له مغلو سره روغه جوړه وکړه او د هغوی یو استازی یې ومانه خو خلکو هغه وواژه. دغه خبره یوه علوی روحاني مغلو ته ورورې ددې خبر په اوریدو سره مغلو د چنګیز د زوم تغاجار تر مشرۍ لاندې یو لښکر د نیشاپور په لوری را رهي کړ او نیشاپور یې کلا بند کړ، ډیره کلکه جګړه و نښته، د ښار اوسیدونکو په ډیرو ستونزو سره دفاع کوله، په خپله تغاجارد جګړې په دریمه ورځ په غشي باندې ووژل شو، د مغلو لښکر په شا ولاړ، د نیشاپور پر ځای یې په سبزوار باندې یرغل وکړ، د سبزوار خلکو هم د ښار ساتنې ته ملا وتړله، خو له درې ورځو جګړې وروسته له ماتې سره مخامخ شول. د مغلو لښکر د سبزوار ټول وګړي چې څه نا څه اویا زره تنه وو، ټول ووژل. دې پسې وروسته تولی خان چې د مروې ښار یې لوټ او ویجاړ کړی و، په ۱۲۲۱ کال له خپل ټول لښکر سره نیشاپور ته را ورسید او جګړه یې پیل کړه هغه خپل لښکر سره درې سوه منجنیقونه او درې زره اور اچوونکی وسلې لرلې، خو نیشاپور په کلکه ځان څخه دفاع کوله، له

Scanned by CamScanner

بلې خوا د مغلو لښکر کلك هوډ درلود چې د لوی خان د زوم کسات واخلي او ډیر ژر ښار ته ننوځي او د وینو ویالې وبهوي، په تیره بیا کله چې د چنګیز لور په خپله د خپل میړه د کسات اخیستو لپاره نیشاپور ته راغله نو امر یې وکړ چې نه یوازې د نیشاپور خلك بلکې څاروي هم باید ژوندي پاتې نه شي. په دې توګه دد غه یرغل په څلورمه ورځ مغل د ښار په دیوالونو او دروازو وختل، نور د دښمن د لښکریانو وژلو او د ښار د اوسیدونکو دفاع کومه ګټه نه کوله، ځکه چې د دښمن لښکر نیشاپور ته ننوتلی و. خلك را منځته شول بیا یې هم جګړه ته دوام ورکړ او په زړورتیا یې د ښار په هره څنډه او کوڅه کې جګړې پرمخ بوتله، خو د مغلو لوی لښکر د ښار اوسیدونکی له کاره وغورځول او دا مهال د مغلو سل زره سپاهیانو او حشري لښکریانو د خوانانو په وژلو، د بوډا ګانو په شکنجه کولو او د ښځو او ماشومانو په اسیر کولو پیل وکړ. بیا یې اسیر کړي خلك ټول د ښتې او بیدیا ته بوتلل او هلته یې ټول ووژل. د ښار څاروي یې هم ووژل او ټول ښار یې د چنګیز خان د کونډې لور له امر سره سم وروسته تر ورانولو تر اوبو لاندې کړ او ټول یې داسې کولبه کړ چې له پټو سره یې هیڅ توپیرو نشو. مجیر الملك د نیشاپور حاکم چې اسیر شوی و، ددې لپاره چې د دښمن شکنجې سره مخامخ نشي پر له پسې یې مغلو ته کنځلې کولې. دا ځکه هغه غوښتل چې د مغل عسکر ښه په غوسه کړي، تر څو دې ډیر ژر بې له شکنجې ووژني. په دې توګه یو بل ډیر لوی ښار چې د مرو، هرات او بلخ په کتار کې شمیرل کید، د هغه مهال په افغانستان کې ونړول شو او د مغلو لښکر د هرات خواته مخه کړه.

## ح) هرات د ښار د خلکو مبارزه

د هرات نامتو ښار چې د افغانستان یو لرغونی او لوی ښار دی، د اسلام له راتګ څخه څو پیړۍ مخکې د نوم او پرتم لرونکی و. د اسلام په دوره کې او بیا په لسمه پیړۍ کې د هرات تاریخي ښار د مقدسي او ابن الحوقل له لیکني او وینا سره سم یو لوی او د څلورو دروازو لرونکی ښار و. ددغو دروازو نومونه دا وو: باب سرای (د بلخ د لارې خواته)، باب زیاد (د نیشاپور د ښار خواته)، باب فیروز (مخ د سیستان په لورې) او د کوشك دروازه (چې مخ په غور وه) همدارنګه هرات د ښار دننه یو ارګ درلود او له ښار څخه بهر یې دارالاماره وه چې د پوشنګ د لارې پر سر وه او نوم یې خراسان آباد وه. په یوولسمه او دولسمه پیړۍ کې دغه ښار نور هم مخ په پراخیدو شو او د حمد الله قزویني د نزهت القلوب د اثر په وینا هرات د غوریانو پر مهال دولس زره هټۍ ۴۴۸ زره کورونه، ۳۵۰ مدرسې او خانقاوې او د ډوډۍ خوړلو ځایونه لرل ددیارلسمې پیړۍ په پیل کې او د چنګیز له یرغل څخه مخکې یاقوت حمودي چې په خپله په هرات کې اوسیدلی و، دغه ښار داسې تعریف کړی و: (... دغه لوی ښار په دغه مهال د نړۍ تر ټولو شتمن ښار چې ډیر زیات وګړي پکې اوسیدل چې بل داسې ښار ما په نړۍ کې نه دی لیدلی. ددغه ښار شاوخوا او بهر سیمې ډیرې حاصل ورکوونکې ځمکې دي چې تر اوسه ما لیدلې...)

په ۱۲۲۱ م. کې د مغلو د یرغل پر مهال، د هرات حکومت د ملك شمس الدین جوزجاني په لاس کې و، دا ځکه چې پخوانی حاکم امین الملك خوارزمي د سلطان جلال الدین ماما یو کال مخکې کله چې د

Scanned by CamScanner

مغلو لومړنی لښکر لومړی ځل له دغې سیمې څخه تیریده، له هرات څخه تښتیدلی و او دا مهال یې د سند شاوخوا کې هلې ځلې کولې، په داسې حال کې چې د پوشنګ ښار له ځانه ساتنه کوله او د یوې جګړې په ترځ کې یې د مغلو یو غټ امیر مړ هم کړ، خو له دې امله ډیر ژر د جبه وستای په لاس په بې رحمی سره ونړول شو، خو ملك شمس الدین جوزجاني د امین ملك برخلاف یو دنده پیژندونکی سړی و. هغه مهال چې تولی خان د مرو او نیشاپور له لوټ او تالان څخه وروسته مخ په هرات را سم شو نو امین ملك ته یې خپل استازی ور ولیږ او له حاکم، قاضي او خطئب څخه یې وغوښتل چې خلك د مغلو اطاعت ته ور وبولي. له دې امله چې خلکو د مغلو تابعداري (انقیاد) و نه مانه، نو ملك شمس الدین د مغلو استازی مړ کړ او په ځرګند ډول یې جګړه اعلان کړه، مغلو ښار کلا بند کړ او پر له پسې جګړه ونښته. د جګړې په اوومه ورځ ملك شمس الدین چې د جګړې په اول صف کې د دښمن د غشي د تیرلو له امله ووژل شو، د هغه مړینې د ښار روحانیونو او او اشرافو ته یوه بهانه په لاس ورکړه او د روغې جوړې په نوم د دښمن لښکر ته ورغلل او د ښار د تسلیم کولو خبره یې ورته وکړه. تولي د خلکو د امن او امان ژمنه وکړه او ښار ته ور ننوت، د ښار دولس زره نظامي ساتونکی یې ټول ووژل او بس او د ښار له نړولو هم تیر شو، دا ځکه چې تولي د هرات د ښار ښکلی هوا، ښایسته ودانی، په تیره بیا د هرات زربفتي رختونه ډیر خوښ کړي وو. له دې پرته د هغه ډیره بیره وه چې ډیر ژر خان پلار ته ور ورسوي او د تالقان د نصرت کوه د کلا په نیولو کې ور سره مرسته وکړي. تولي د هغو ټولو لوټ شویو شتمنیو سره یو ځای چې د افغانستان له بیلا بیلو ښارونو څخه یې ترلاسه کړی و او په هغو کې نغدې شتمنی او څاروي هم و، یو تن فقي عالم او قاضي وحید الدین پوشنګي هم له ځان سره کړ. ددغه مذهبي روحاني عالم امتیاز په دې کې و چې د هرات د ښار په ساتنه کې د ښار له ساتونکو سره یو ځای شوی و او زره او وسله یې اخیستی وه او د یو لوړ ځلی له سر څخه یې پر دښمن غشي ورول، خو یو ناڅاپه له پاسه را وغورځید او د کلا د دیوال په بیخ کې ولوید او بیا د دیوال له بیخ څخه د کندې تر ژورې برخې پورې روغ رمټ و ښوييد. تولي په خپلو سترګو دا پيښه ولیده او هك حیران شو، ډیر ژر یې یو سړی ور ولیږه چې هغه و نه وژني او ژوندی یې ده ته راولي. د قاضي معلومات فصاحت، زړورتیا او ادب پیژندنه د تولي ډیره خوښه شوه، نو هغه یې د یوه سوغات په توګه خپل پلار ته وړاندې کړ، هغه خبرې چې لوی خان د ژباړونکو په مرسته له دغه قاضي سره وکړې، د هغو په ترځ کې چنګیز (لوی خان) د تاریخي، تاریخ پیښو سیر ملوك او د نبیانو په هکله ډیر معلومات ور څخه تر لاسه کړل. ددغو خبرو اترو په لړ کې چنګیز له دغه قاضي څخه یوه پوښتنه دا وکړه چې آیا له ما څخه وروسته به له ما څخه یو عجب نوم په نړۍ کې پاتې شي؟ قاضي سر په ځمکه کیښود او د خان د امن غوښتنه یې وکړه او ځواب یې ورکړ: د یو چا نوم په خلکو کې پاتې کیږي، خو خان خلك وژني نونوم به چیرته پاتې شي. چنګیز خان په غوسه شو او قاضي ژر و تښتید، نو ځکه ژوندی پاتې شو.

په هر حال، د تولي په لاس د هرات نیول دومره سوبې ته ورته نه وه لکه د روغې- جوړې بڼه یې چې درلوده، لږ موده وروسته بیا خلك پاڅیدل، د مغلو استازی (شحنه) یې مړ کړ او پر ځای یې ملك مبارز

الدین او ملك فخر الدین د خپلو مشرانو په توګه وټاکل او ژمنه یې وکړه، چې د ژوند تر پایه به د مغلو پر ضد جګړه کوي او د دښمن په وړاندې یې دغه ژمنه رېښتیانې هم کړه. کله چې چنګیز خان د هرات د خلکو له دغه پاڅون څخه خبر شو، تولی یې وراټه چې د هغه له یاسا (فرمان) څه یې ولی سرغړونه کړې (د چنګیز یاسا عامه وژنه وه) دا ځل یې د ایلچیګدای تر مشرۍ لاندې یو اتیا زریز لښکر له یوې پنځوس زریزې حشرې ډلې سره یو ځای د هرات خواته واستول چې له دوارو څخه یو ډېر غټ ځواك جوړ شو او دغه لوی ځواك ته یې امر وکړ چې د هرات په ښار کې هیڅ ژوندی ساکښ پرې نه ږدي او ټولې ودانۍ ونړوي. مغلو د لوی خان د دغه امر د عملي کولو لپاره شپه او ورځ په ځان یوه کړه او کلکه جګړه یې پرهرات پیل کړه. په هر ځل یرغل به دوی تر پنځو زرو تنو پورې خلك وژل، دغه جګړه له ورځو او اونیو څخه واوښته او تر میاشتو پورې اوږده شوه او په پای کې یې شپږ میاشتې او اوولس ورځې شوې. په دغه ټوله موده کې د مغلو ارتباطي کرښې ټولو خواووته غځیدلې وی او آذوقه هم ورته رسیدله خو د هرات د ښار دننه آذوقه ختمه وه او خلکو په لوږه د ښار ساتنه کوله، خو بیا هم هغې ژمنې ته وفادار پاتې وو چې ځان به ووژني خو دښمن ته به تسلیم نشي، نو حکه یې شپه او ورځ د ښار سلتنه کوله، خو د ښار ډېر سوی دیوالونه د دښمن د کلکو ګوزارونو له امله لکه د غومبسې د ځالې په شان سوري سوري شول او د دیوالونو ځلي د دښمن د نقب الوځولو له امله درز درز شول او یوه ورځ پنځوس ګزه دیوال و شړید او څلور سوه مغل ور لاندې مړه شول. په دې ترڅ کې د دښمن د پوځ یرغل د هرات په وړي او مات شوي ښار ګړندی شو او په ۱۲۲۱ کال کې د ایلچیګدای لښکر د ایرو له ځلي واوښت او ښار ته ور ننوت. دغه لښکر اوه شپې او ورځې خلك ووژل او ښار یې وسوځاو او په پای کې د هرات ټول نارینه، ښځې او ماشومان ووژل شول، نور نو هیڅ ژوندی پاتې نه و چې مغل یې لکه د نورو ښارونو په شان بیدیا ته و باسي او هلته یې ووژني. لکه څرنګه چې قاضي جوز جاني لیکلي دي چې: په هرات کې شپږ سوه زره وګړي او په شاو خوا کې یې دوه میلیونه او څلور سوه زره د مغلو په جګړه کې ووژل شول، وروسته بیا مغلو د ښار ټوله شتمني لوټ کړه او په خپله ښار یې وسوځاو او ټول یې ویجاړ کړ، الیچیګدای خپل لښکر د هرات په ختیځ کې په یوه واټن کې په اوبو کې تم کړ. له هغه ځایه یې بیا دوه زره عسکر هرات ته ولیږل چې که کوم څوك له جګړې ژوندې پاتې وي او چیرته پټ وي هغه هم ووژني، کله چې د مغلو دغه ټولګي هرات ته را ورسیدل ویې لیدل چې درې زره تنه له پټنځایونو څخه را وتلې وو او سه را ټول شوی وو. دوی هغه هم ټول ووژل او بیرته خپل لښکر ته ور ستانه شول.

څه موده وروسته معلومه شوه چې د هرات له ټول نفوس څخه یوازې شپاړس تنه و توانیدل چې په یو څه ډېرو پټو ځایونو کې ژوندي پاتې شي. په پدی کې یو یې د جفرتان خطیب شرف الدین و چې ځان یې د جامع جومات د ګومبندې په سوري کې پټ کړی و. دا هماغه جومات و چې سلطان غیاث الدین غوري جوړ کړی و، له دې امله چې له پخو خښتو څخه جوړ شوی و نو له سوځیدلو څخه روغ پاتې شو، وروسته بیا سلطان شمس الدین کرت هغه ورغاو او بیا یې له سره جوړ کړ، خو د هرات ویجاړتیا لکه د بلخ په شان تر ډېرې مودې دوام و نه کړ، د چنګیز خان د زوی اوګتای پر مهال امیر عزالدین مقدم هروي

د هرات په بیارغاونه لاس پورې کړ وروسته بیا د کرت امیرانو هم د هرات په جوړولو کې کار وکړ. له دې امله چې بلخ او مرو همداسې ویجاړ پراته وو، نو هرات د آسیا د سوداګریزو تولو لارو د تبادلو مرکز وګرځید او د هرات دغه اقتصادي اهمیت د وسپنې د پټلۍ د جوړیدو تر مهاله پورې په خپل حال پاتې شو.

په ۱۳۸۱ م. کال کې یو ځل بیا امیر تیمور ګورګان د هرات دننه او بهر نوې ودان شوې دیوالونه ونړول، خو د هغه د زوی شاهرخ پر مهال په ۱۴۱۵ م. کې بیا ورغول شو. همدارنګه په ۱۴۵۸-۱۴۲۹ م. کلونو کې د سلطان ابو سعید پر مهال او په ۱۴۲۹-۱۵۰۷ م. کلونو کې د سلطان حسین پر مهال د هرات بیارغاونې ته ډېره پاملرنه وشوه. چې د دغه مهال د ملکې ګوهر شاد مصلی د هغې له ښکلو منارونو سره تر اوسه هم پاتې ده. البته د ګورګانیانو د پاچاهي له منځه تللو وروسته په هرات باندې د اوزبک شاهي بیک په واکمن کیدو سره په ۱۵۱۲ م کې او بیا په بل کال یې د صفوي شاه اسمعیل د واکمنې پر مهال او همدارنګه د ماورالنهر د ازبکانو د یرغل پر مهال د شاه عباس او طهاسب صفوي په وختونو کې یو بل سره د جګړو پر مهال هرات بیا ویجاړ شو. هغه مهال صفویان مجبور شول چې د ازبکانو د یرغل د مخنیوی لپاره په هر ځای کې نظامي پراوونه جوړ کړي.

د مغلو لښکر د خپل یرغل پر مهال د هرات د ښار ځنګ ته کوچنی ښار ګوټې یعنی اسفزار هم ونړاو. سره له دې چې خلکو د هرات ولایت اسفزار بیرته ودان کړ، خو په ۱۳۸۳ م. کې د تیمور ګورګاني په لاس بیرته وران ویجاړ شو او د هغه ځای دوه زره اوسیدونکی ووژل شول او د هغوی د سرونو څلي جوړ شول

## ط) د سیستان د خلکو مبارزه

په سیستان باندې د مغلو لومړنی یرغل په ۱۲۲۱ م. کال وشو. د دښمن لښکر چې د تولي په مشرۍ د افغانستان د شمال لویدیځو ولایتونو د نیولو او ویجاړولو په خاطر دنده تر لاسه کړې وه او مخ په مرو، نیشاپور او هرات راغلی و، د دغه ولایتو د جګړو په ترڅ کې مخ په سیستان هم ورغلل او د دغه ولایت پلازمېنه چې د ملك نصر الدین بن بهرامشاه او د سیمه ییز حاکم د اوسیدو ځای و، کلا بنده شوه. خلك او سیمه ییز حاکم د مغلو په وړاندې پاځیدل، د ځو ورځو جګړو په ترڅ کې دښمن کوم غوښ بری تر لاسه نه کړ، نو بیرته ستون شو، خو امیر نصرت الدین په دغه جګړو کې ووژل شو.

په سیستان باندې بل ځل یرغل د اوکتای په امر و هغه د دوو تنو منصبدارانو (مسنکده چربي او سعدي چربي) تر مشرۍ لاندې وشو. دغه مهال د پخوانی امیر ورور او ځای ناستې ملك رکن الدین محمود بن حرب د سیستان له خلکو سره یو ځای د دښمن په وړاندې ودریدل. د هغو جګړو په ترڅ کې چې وشوې رکن الدین محمود ماتې سره مخامخ شو او مغلو دی او دده کورنۍ ووژل. مغلو د سیستان ښار له تولو ودانیو او آبادیو سره یو ځای ویجاړ او له خاورو سره یې برابر کړ او ډیر وګړی یې هم ووژل او په خپله بیرته ستانه شول، د دغې جګړې په هکله قاضي منهاج السراج بوزجاني داسې لیکي: «... هغه لښکر چې سیستان ته تللی و، سیستان یې ونیو او هره کوڅه او هر کور کې یې جګړه پر مخ بوتله او د سیستان له

Scanned by CamScanner

مسلمانانو سره یې که ښځې وې که نارینه جګړه وکړه او ټول یې ووژل او عورتې ټولې شهیدانې شوې...) (طبقات، دوهم ټوک ۱۲۸ مخ د کابل چاپ) ورسته له هغه تاج الدین نیالتګین خوارزمي پاڅون وکړ او د پخواني حکمران د پاتې کورنۍ واك یې ختم کړ. تاج الدین د سیستان کلا (ارګ) بیا جوړ کړ او د خپل حکومت پلازمېنه یې کړه او پوځ یې هم سمبال کړ، په ۱۲۲۷ کې یو ځل بیا د مغلو لښکر پر سیستان یرغل وکړ، چې نیالتګین یې د سیستان په ارګ کې ایسار کړ او په کلا (ارګ) باندې جګړه و نښته، دا ځل خلك له دښمن سره په کلکه ونښتل او د مغلو لښکر یې یو کال او اوه میاشتې له کلا باندې ودرول، خو په پای کې د دښمن برې وموند او نیالتګین د جګړې په ترځ کې ټپي، بیا ونیول شو او په پای کې اعدام شوه، مغلو کلا ونیوله بیا یې د کلا ټول ساتونکي چې څه یې سیستانیان، نور یې غوریان او تولکي وو، ټول ووژل او د سیستان ودانۍ یې ونړولې او خپله بېرته ستانه شول.

لږ موده وروسته د سلطان جلال الدین یو افسر قراجه حاجب په نیشاپور کې یو شمیر خلك سره را ټول کړل او د دښمن په وړاندې یې داړې پیل کړې هغه به چې چیرې مغل و موند هغه به یې مړ کړ او تیت او پرك یرغلونه یې کول. اوګتاي خان امیر جرماغون په ایران کې د سلطان جلال الدین د له منځه وړلو لپاره او په بادغیس کې د مغلو د لښکر یو افسر طاهر بهادر د قراجه حاجب د وژلو لپاره وګومارل. قراجه حاجب له ۱۲۳۲ څخه تر ۱۲۳۵ م. پورې له سیستاني زړورو جنګیالیو سره یو ځای له طایر بهادر سره جګړې وکړې. دا مهال په مغلو کې دننه یې اتفاقي پیدا شوه او طایر بهادر له سیستان څخه ووت، نوځکه د سیستان خلك لږ په آرام شول. د مغلو له خو څو ځلې ورانیو څخه وروسته جلال آباد د سیستان د سیمه ییزو امیرانو پلازمېنه شوه، تر څو چې امیر تیمور ګورګان راغی او جلال آباد یې رنګ او د رستم بند یې هم له منځه یوړ چې د هلمند د سیند په یوه نهر باندې د زرنج ښار ته نژدې جوړ شوی و، په دې توګه د تیمور په لاس ټوله کرنه له منځه ولاړه.

## ي) د پروان جګړه

د چنګیز د یرغل پر مهال په افغانستان کې د غزني ښار اړ دوړ سره مخامخ شو، دا په داسې مهال کې چې دغه ښار د افغانستان په ټول جنوب او ختیځ کې د هندوکش د جنوبي ولایتونو مرکز و. سره له دې چې غزني د علا الدین حسین جهانسوز پر مهال یو ځل سوځول شوی و، خو د هغه د اولادې پر مهال بیا خو له بده مرغه کله چې د غوریانو سلطنت په څو برخو وویشل شو او غزني د تاج الدین یلدز غوري د حکومت پلازمېنه شو، د خوارزمشاهیانو له نیولو وروسته یې د سلطان محمد خوارزمشاه د مشر زوی جلال الدین پر مهال خپل اهمیت د اداري مرکز په توګه ډیر لږ پاتې وساته، خو کله چې د مغلو سیلاو راغی د غزني حاکم او ساتونکي (کربرملك) و او د ښار کوتوالي د صلاح الدین محمد نسايي په لاس کې وه. کله چې سلطان محمد ایران ته و تښتید، اختیار الدین محمد بن علي خرپوست غوري د پیښور والي له مغلو سره د جګړې په خاطر له پیښور څخه غزني ته راغی او د څواکمن لښکر د سمبالولو په

Scanned by CamScanner

هغه کې شو همدا چې اتلپالو خلکو ددغه نامتو ملي سپه سالار نوم واورېد په زرګونو خلک د هغه تر توغ لاندې را ټول شول په لږ مهال له سل زرو څخه زيات خلک دا و طلب کسان له دښمن سره د جګړې لپاره چمتو شول، دا ځکه چې د اختيار الدين نوم په ټول افغانستان کې خپور و. دا هماغه زړور جنګيالی و چې د تالقان د نصرت کوه کلا يې پوره لس کاله- د غور د دولت په نوم- د خوارزم د دولت د يرغل په وړاندې وساتله او نن يې غوښتل چې د مغلو سيلاو سره مقابله وکړي. دا مهال شمس الملك شهاب الدين الپ په غزني او غور کې د سلطان جلال الدين وزير غزني ته راغی خو د خوارزمشاهي خپلوان امين ملك چې افغانستان ته د مغلو په راتګ يې هرات پرېښی و او د سند شاوخوا د سيمو په نيولو بوخت و او «کربر ملك» يې هم له غزني څخه خپلې مرستې ته ورغوښتې و، همدا چې غزني ته د اختيار الدين له ورتګ څخه خبر شو، ډېر ژر يې د توطئې او فتنې په جوړولو پيل وکړ. هغه په پټه وزير شمس الملك او د غزني کوټوال صلاح الدين ولمسول چې اختيار الدين له منځه يوسي. له دې امله چې امين ملك د خوارزم د کورنۍ يو غړی و، شمسن الملك او کوټوال صلاح الدين د هغه خبره ومنله او د ميلمستيا په بهانه يې يوه شپه په خانيانه توګه اختيار الدين مړ کړ په هغه سبا چې کله داو طلب سپاهيان د خپل سپه سالار له مړينې څخه خبر شول، په ډېرې ناهيلۍ سره يې غزني پرېښود او خپلو کورونو ته لاړل دا ځکه چې دوی نه غوښتل چې د شمس الملك او صلاح الدين په شان خلکو تر توغ لاندې پاتې شي. امين ملك له دې خلا څخه ګټه اوچته کړه، غزني ته ننوت او حکومت يې په خپل لاس کې ونيو، خو خلکو ور څخه کرکه کوله. لکه چې امين ملك واورېدل چې سلطان جلال الدين د هرات او نيشاپور له لارې غزنين ته روان دی، ډېر ژر يې وزير شمس الملك بندي کړ او د غزني د چارو واك يې صلاح الدين کوټوال ته وسپاره او په خپله د خپلې عمه د زوی جلال الدين مخې ته ورغی، جلال الدين شمس الملك وزير را خلاص کړ او ټول مخ په غزني روان شول.

تر دې مهال پورې د غزنين خلك چې د لويو اشرافو او خانانو له ظلم او فشار او په خپلو منځو کې د هغوی له نفاق څخه ستومانه شوي وو، پاڅېدل او صلاح الدين کوټوال يې مړ کړ او د هغه په ځای يې ترمذي وروڼه «رضي الملك او عمدة الملك» راوستل، خو ملك شير د کابل والي د ترمذي وروڼو سره مخالف و، نو ځکه د ننګرهار له والي اعظم ملك «د بلخ د پخواني والي عماد الدين له ځوی» سره يو ځای يې په غزنين يرغل وکړ او هغه ښار يې له ترمذي وروڼو څخه ونيو.

کله چې په ۱۲۲۰ کې سلطان جلال الدين غزني ته راغی، خلك بيا وربانديې را ټول شول او يو لاربنود او مرکزيت يې وموند، نو ددغه زړور سړي تر توغ لاندې يې ډېر ژر يو لوی پوځ جوړ کړ چې شمير يې سل زره ته شو. د ننګرهار والي اعظم ملك، د کابل حاکم ملك شير، د پېښور والي سيف الدين اغراق او مظفر ملك «د پښتنو قبايلو» مشر ددغه لوی پوځ نامتو قوماندانان وو، خو په دغه لوی پوځ کې د سلطان جلال الدين د خسر او د ماما د زوی امين ملك خوارزمي شتوالی د لستوڼي د مار په شان و چې په پای کې د هغه زهرو د دښمن په وړاندې د هېواد ټول فعاليت ته زيان ورساو.

په هر حال، جلال الدين له غزني څخه د کابل په لاره باندې د پروان په لوري روان شو او هغلته يې لښکر

Scanned by CamScanner

کوټ جوړ کړ تر څو د بامیان لاره چې د دښمن تر ګواښ لاندې وه وخارلای شي. دا مهال خبر ورته ورسید چې د والیان کلا د دښمن د هغه پوځ تر برید لاندې راغلې ده چې د تخارستان په ولایت یې برید کړی. نو لښکر کوټ یې پروان کې پرېښود په خپله د لښکر له یوې برخې سره والیان ته ولاړ. په لومړي برید کې یې د مغلو زر تنه سپاهیان ور ووژل. نو د مغلو نورو سپاهیانو والیان پرېښود او د چنګیز لښکر ته ور وتښتیدل. د جلال دغه غږ دښمن پوره په ویره کې واچاو. آن دا چې د مغلو عسکر و په تخار کې د «ولخ» د کلا محاصره پرېښود او ټول و تښتیدل چنګیز خان ډېر ژر د «کوتو قونویان» تر مشري لاندې ۴۵ زره سپاهیان مخ په پروان ولیږل. خو جلال الدین د پروان په یو فرسنګ واټن کې د هغو مخه ونیوله جلال الدین د لښکر په منځ کې و. امین ملك د پوځ ښی خواته او سیف الدین اغراق د پوځ کیڼې خواته. ددې لپاره چې د پوځ په سپاهیانو کې د تېښتې فکر پیدا نه شي جلال الدین امر وکړ چې سپاره عسکر دې هم پیاده شي او جګړه دې پر مخ بوځي. حال دا چې د دښمن جنګیالي سپاره وو. جګړه ډېره کلکه ونښته. دوه ورځې اوږده شوه. ډېر مغل ووژل شول او یو شمیر بندیان شول نور د چنګیز خواته و تښتیدل او تر ډېره پورې د جلال الدین عسکرو د هغوی پل پسې واخیست. ددغې جګړې پایله ډېر ژر په ټول افغانستان کې هم ددوستانو او هم د دښمنانو غوږونو ته ورسیده او دا ډېره مهمه خبره وه. دښمن په ویره کې ولوید او د هېواد خلك یو ځل بیا د خپلواکي په هیله شول. دا یواځې نه، بلکې د مغلو په ټولو نیول شویو سیمو کې، د افغانستان خلکو یو ځل بیا له سرې څنډې اتفاق وکړ، سره راټول شول او د دښمن په ضد پاڅیدل، هر چیرې چې مغل وو ویې وژل. خو دا مهال چنګیز په بامیان کې په جګړه بوخت و او د هغه ځای د زړورو ساتونکو سره مخامخ شوی و. خو د پروان سوبې، چې د ټول افغانستان لپاره د ژغورنې مانا درلوده، د نظامي فیوډالانو د رقابت او سیالیو له امله په یوه شیبه کې له منځه ولاړه. امین ملك د جلال الدین خسر له سیف الدین اغراق (چې ۴۰ زره سپاهیان او د ختیځ افغانستان ټول افسران ور سره وو) سره د غنیمت په ویشلو کې وران شو. هغه د غنیمتونو په ډله کې د یوه آس د اخیستلو په بهانه د سیف الدین په تندی د قمچن ګوزار وکړ. سیف الدین د سلطان په خسر او د ماما په زوی د تورې ګوزارونه کړ، بلکې هغه په دې تمه پاتې شو چې په خپله سلطان به ددې خبرې پوښتنه وکړي، خو جلال الدین چې څومره یو زړور سر لښکر و هغومره بې تدبیره او ظالم او وینې تویوونکی او کبرجن هم و، نو په دغه پېښه کې یې عاقلانه چلند و نه کړ، بلکې هغه د خپل خپلوان د حیثیت د ساتلو په خاطر د ټول پوځ او ټول هېواد ګټې تر پښو لاندې کړې، په دې خبره باندې غلي پاتې شو او د امین ملك ددغه تیري او د سلطان د چپ پاتې کیدو له امله د سپاهیانو او افسرانو زړونه مات شول او په لومړی ګام کې ملك سیف الدین اغراق له خپلو لښکریانو سره یو ځای د جلال الدین له پوځ څخه جلا شو او د خپلې واکمنۍ سیمې یعنی پیښور ته لاړ چې وروسته د اختیار الدین تر وژل کیدو نوموړی هلته واکمن و. د ننګرهار والي اعظم ملك هم و نه غوښتل چې د امین ملك تر حکم لاندې پاتې شي، نو څکه له خپلو سپاهیانو سره ختیزو ولایتونو ته له ملك سیف الدین اغراق سره یو ځای ستون شو. سلطان چې څومره هڅې وکړې چې دغه کورنۍ تفرقه له منځه یوسي بریالی نه شو. دا څکه چې پېښې داسې بڼه

غوره کړی وه چې سلطان باید فقط هرړ مرو د یوه اړخ پلوي وکړي، خو هغه د خپل خپلوان پلوي وکړه، خو د افغانستان د ختیزو ولایتونو له جلا کیدو وروسته سلطان جلال الدین په پروان کې له امین ملک سره یو ځای ځان ډیر کمزوری او مات احساس کړ، نو له دې امله چې د دښمن د یرغل ګواښ په مخه کې و، ډیر ژر مخ په غزني ولاړ چې یو ځل بیا خپل ځواک پیاوړی کړي، خو کله چې غزني ته ورسید، نو خبر ورغی چې چنګیز بامیان لوټ او ونیو او دادي اوس مخ په غزني ور روان دی. جلال الدین ته د نوږ تشکیلاتو د جوړولو وخت پاتې نه و، نو ځکه د ګردیز، پکتیا او کرم له لارې مخ په سند ولاړ تر څو هلته کوم لښکر جوړ کړي، کله چې هغه د سند غاړو ته ورسید نو له سیند څخه د تیریدو لپاره یې په داده زړه د بیړیو د جوړولو امر وکړ او په خپله یې دمه وکړه.

تر دې مهال پورې د سیف الدین اغراق او اعظم ملک لویو پوځونو هم په جلال آباد او هم په پېښور کې یو بل خلاص کړي و، په دې معنا چې ننګرهار ته ددغه ولایت د والي اعظم ملک په رسیدو سره سیف الدین اغراق او ټولو غوري او ترکمان واکمنو ته یې میلمستیا وکړه همدارنګه هغه د غزنوي خلجیانو امیر نوح جاندار ته چې شپږ زره کورنۍ یې تر مشري لاندې وې د ورور او خړ ځای په خاطر په ننګرهار کې ځای ورکړ، خو سیف الدین اغراق له نوح جاندار سره سیالي لرله. له دې امله چې خپلو شلو زرو جنګیالیو سره له ننګرهار څخه پېښور ته روان شو نو یو تن یې اعظم ملک ته واستاو او ورته خبر یې ولیږ چې زما او ستا تر منځ اړیکې لکه د پلار او زوی په شان دي، نو درڅخه غواړم چې نوح جاندار ته د ننګرهار په ولایت کې ځای ور نه کړی. اعظم ملک چې نه غوښتل دا ډول نفاق په پوځ کې راشي، په خپله له پنځوس تنو سپرو سره سیف الدین اغراق پسې چې لږ څه له ننګرهار څخه لرې شوی و، ورغی، هغه هلته دمه کوله او اعظم ملک د نوح جاندار له [1] .ري ورته شفاعت او وساطت وکړ.

سیف الدین د اعظم ملک ډیر ښه تود هر کلی وکړ، خو د هغه دغه غوښتنه یې و نه منله، کله چې هغه په شرابو ښه مست و یو آس یې وغوښت او له یو څو تنو سپرو سره د نوح لښکر کوټ ته ورغی. نوح فکر وکړ چې سردار ده سره غمرازي ته راغلی نو ځکه له خپلو ماشومانو سره د هغه مخې ته ورغی، خو بدمست سردار توره را وکښله او یرغل یې ورباندې ور وړ، خو د نوح ساتونکو هغه ځیرې ویرې کړ. کله چې د اغراق په لښکرو کې دا خبر خپور شو، نو دا یې د اعظم ملک یوه توطئه وګڼله، نو ډیر ژر یې هغه ونیو او مړ یې کړ او بیا یې د نوح په لښکر کوټ هم یرغل ور وړ او نوح یې د هغه له زامنو سره یو ځای وواژه. د دوو لښکرونو ترمنځ جګړه پیل شوه، دا مهال غوریان هم په جګړه کې ور ګډ شول په پای کې دغه ۴۰ زریزه اردو ته لوی زیان واوښت او ټول سرداران یې ووژل شول، نور پاتې سپاهیان ټوک ټوک او زپ زپ د پېښور په شاوخوا کې خواره شول، په دې توګه د افغانستان یو لوی ځواک دړې وړې شو، مغل راغلل پاتې نور یې هم ور ووژل. دغه خواشینونکې پېښه د هغه مهال د منځنۍ آسیا د فیوډالي او اشرافي هېوادونو د افکارو او کړو وړو یوه بېلګه وه چې د دوی شخصي غرض او ګټې څرنګه د ټول هېواد په ګټو مخکې ګڼل کیدې، خو د هېواد دفاع او هېواد ته خدمت تل د دوی ته دوهم درجه ارزښت درلود.

Scanned by CamScanner

کله چې چنګیز بامیان ونیو او هغه یې لوټ او برباد کړ. د پروان له ماتې خبر شو چې جلال الدین په شا تللی او غزني کې د سلطان په پوځ کې بې اتفاقي راغلې. نو په منډه روان شو آن دا چې په لاره کې یې د خوراك پخولو لپاره هم ځنډ و نه کړ. کله چې غزني ته ورسید نو خبر شو چې پنځلس ورځې مخکې سلطان جلال الدین سند ته تللی، نو چنګیز هم پرته له ځنډ څخه او د غزني د پرانیستې ښار له ورانولو پرته مخ په سند ورغی. سلطان د لارې په سر یو کندك درولی و خو کله چې چنګیز ورغی هغه یې له منځه یووړ او ډیر ژر د سلطان په قرار ګاه ورغی.

سطان ته نور د تیښتې لار نه وه پاتې، توري ته یې لاس کړ اود اووه سوه سپرو سپاهیانو منځ ته ورغی، د هغه د لښکر ښي لاس ته امین ملك او د سلطان اته کلن زوی و، خو د دښمن لښکر دومره لوی و چې د سلطان د لښکر صف (لیکو) جوړولو ته یې موقع نه ورکوله. د سلطان شا ته سیندو او له نورو دریو لوریو څخه کلا بند شو. چنګیز په منډه د هغه د لښکر ښي او کیڼ لوري مات او د هغه اته کلن زوي یې په توره سم نیما یې کړ. ګنهکار امین ملك چې مخ په پېښور تښتید، د مغلو د سپرو لاس ته ورغی او ووژل شو.

سلطان له یو شمیر سپرو سره د لښکر له منځه وړاندې راته او په زړورتیا داسې له زرګونو دښمنانو سره په جګړه وه چې چنګیز هم ورته حیران شو. د هغه مور او د حرم ښځو سلطان ته وویل چې د دښمن په لاس د بندي کیدو څخه د ساتل کیدو په خاطر دوی حاضر دي چې که سلطان امر وکړي دوی به ځانونه سند ته واچوي، خو د جګړې لمبو ددې امر فوصت سلطان ته ور نه کړ، هره شیبه کلا بندي را وړاندې کیده او سلطان او د هغه سپرو ته د منډې میدان تنګ شو. کله چې سلطان د دښمن په لاس کې د لویدلو ګواښ ولید په یوه ګړندي یرغل سره یې ددښمن د مخې صف باندې یرغل وکړ او څو ګامه یې په شا کړل، بیا نو د سند سیند ته ورغی او خپل آس یې سیند ته وغورځاو. د هغه فداکارو سپرو هم په ډله ییزه توګه ځانونه ورپسې ور واچول. دا مهال چنګیز په خپله د سیند غاړې ته راغی او په سیند باندې یې د غشو باران جوړ کړ چې د اوبو په مخ د وینو رنګ را ښکاره شو. سره له دې چې د سلطان ډیر سپاره په سند کې ووژل شول، خو په خپله له یو شمیر نورو سره ژوندي له سیند څخه پورې وت او چنګیز ته یې کتل او ورته خندل یې چې چنګیز په تحسین سره ورته کتل او خپلو لویو افسرانو ته یې هغه وربنود، نو چنګیز امر وکړ چې د هغه هلکان اولادونه ټول په توره نیم نیم کړي او ښځې یې بندیانې او مغلستان ته ولیږي او د سلطان د بندیانو شویو سپاهیانو برخلیك هم څرګند دی چې څرنګه شو.

چنګیز لامبوزن په سیند کې ور لاهو کړل چې هغه سره او سپین زر چې جلال الدین سیند ته غورځولی وو را وکاږي او لکه د بتکو په شان هغو پسې غوټې ووهې او سره او سپین زر له را ایستلو وروسته چنګیز ته ورکړي. وروسته تر هغه چنګیز د خپل مشر زوی اوګتای په لاربښوونه لوی لښکر مخ په غزني را ستون کړ او امر یې وکړ چې غزني د هغه له ټولو اوسیدونکو سره یو ځای له منځه یوسي. خپل بل ځوی چغتای یې له یوه بل لښکر سره و ګوماره چې د سند، مکران او زابل ولایتونه داسې ویجاړ او کنډواله کړي چې که جلال الدین بیرته را ستون شي، نو د انسان د اوسیدو لپاره ځای و نه مومي.

خو دغو له پلار څخه بدتر و زامنو له هغه څه څخه هم زیات وحشتوکړ چې ورته ویل شوي و. چنګیز خان چې د افغانستان د خلکو له پاڅونونو او په پروان کې د خپلو استازیو له وژل کیدو څخه خبر شوی و، نو وې ویل چې ما خو دغه ټول خلك وژلي وو، دا څنګه بیا را ژوندی شول او بیا یې پاڅونونه وکړل؟ وروسته تردې باید هغوی یوازې و نه وژل شي بلکې وروسته تر وژلو یې هم سرونه پرې شي چې بیا هیڅکله ژوندي نه شي.

د چنګیز دغو بیا ځلي حکمونو افغانستان داسې له وګړو څخه پاك کړ چې د چنګیز په وړاندې نور د پاڅون وروستۍ سلګۍ هم غلی شوی، یوځل بیا ټولې ودانۍ په ټول هېواد کې و نړول شوې او هر هغه ژوك چې د مغلو د لښکر په مخه ورغی ووژل شو. چنګیز خان د جلال الدین په پل پسې له سند څه پورې غاړه (توربای نقشي) له سپاهیانو سره ولیږ او په خپله یو څه موده د سند تر غاړه په تمه پاتې شو چې پایله یې و ګوري. توربای نقشي یو څه موده د سند او پنجاب او ملتان په ولایتونو کې ها خوا دې خوا وګرځید خو په جلال الدین لا سبری نه شو، یوازې به یې بې دفاع ودانۍ لوټ او تالا کولې په پای کې بیرته را ستون شو او په ماورالنهر کې د مغلو لښکر سره یو ځای شو.

خو چنګیز د سند تر غاړې د خپل پاتې کیدو پر مهال د اعظم ملك او سیف الدین غراق سپاهیان د پېښور په شاوخوا کې ټول له منځه یووړل، خو نور د افغانستان په جګړو کې دومره ستومانه شوی و چې لکه مقدوني سکندر غوندې یې و نه شو کولای چې هند ونیسي. دغه ٦۸کلن سړي د لومړي ځل لپاره دا احساس وکړ چې جسم یې نور ضعیف شوی دی، نو دا یې سمه و بلله چې جلال الدین په خپل ځای پریږدي، افغانستان څخه ووځي او خپل هېواد ته بیرته ستون شي، نو ځکه یې امر وکړ چې د جګړې ټول بندیان چې د هغه په اردو کې د بیلا بیلو خدمتونو په تر سره کولو بوخت وو باید هر یو یې اونۍ کې څلور سوه منه وریجې پاکې کړي چې د مغلو د لښکر خوراك شي، کله چې بندیانو دغه کار وکړ، نو امر یې وکړ چې ټول په یوه شپه ووژني. له هغه څخه وروسته په ۱۲۲۱ کې چنګیز خان چې جیحون څخه را پورې وت او د ترمذ له لارې افغانستان ته راغلی و، د پېښور او کرمان له لارې (اوسنی کرم څخه) کابل ته، بیا بامیان، بغلان او بلخ ته ورسید، چې ګوري بیا یو شمیر خلك د بلخ په کنډوالو را ټول دي او نوي کورونه جوړوي، بیا په غوسه شو امر یې وکړ چې ټولې نوی ودانۍ دې ونړول شي او دغه خلك دې لکه پسونه حلال شي او په خپله په ۱۲۲۲ کې له جیحون څخه بیرته پورې وت او سمرقند ته ولاړ.

چنګیز په سمر قند کې و چې توبای نقشي هغه پسې لاخره پرته له دې چې د سلطان جلال الدین د پل اخیستو کومه پایله ولري هغه ته ور ورسید، کله چې چنګیز خبر شو چې دده په ضد په چین کې پاڅون شوی نو له سمرقند څخه د جیحون غاړو ته راغی، هغه د سیحون په غاړه و چې زامن یې هر یو چغتای او اوګتای له افغانستان څخه او جوجي له قبچاق دښتو څخه ده ته ورغلل. چنګیز جوجي بیرته د قبچاق دښتو ته ولیږ او په خپله له نورو زامنو سره مغلستان ته روان شو. په ۱۲۲۳ کې خپل اصلي وطن ته ورسید. له هغه وروسته یې د تنکوت سرغړونکی ولایت (د تبت شمال) ته د پاڅون د ټکولو په خاطر

Scanned by CamScanner

وروستی خل لښکر و استاو او هلته یې د خلکو ډیرې ویني تویې کړې. دا مهال په هغه باندې ناروغي زوروره شوه او په پای کې په خپل اصلي ټاټوبې کې د ۷۲ کلونو په عمر په ۱۲۲۷ کې له هغې نړۍ څخه سترګې پټې کړې چې ده یې نیمایي تمدن له منځه وړی و او په میلیونونو انسانان یې نابود او وژلي وو، د ختیز پاتې هېوادونه د هغه د مرګ د خبر په اوریدو سره له لویې ویرې څخه خلاص شول، خو بیا هم د هغه د ویني تویونکی او اور اچوونکی سنت لمن تر ډیرو کلونو پورې د هغه د اولادې په لاس د ځمکې پر مخ دوام و موند.

## په افغانستان کې د مغلو اداره

د چنګیز له مړینې وروسته د هغه پراخه قلمرو په لاندې توګه د هغه د کورنۍ د غړو ترمنځ وویشل شو، خو دغه ویش هیڅکله د تجزیې معنا نه درلوده، بلکې ددغو برخو هر واکن د لوی خاقان تابع ول، چې د امپراتوري په پلازمېنه کې د چنګیز خان ځای ناستی و. البته وروسته وروسته بیا دغه مرکزیت وار په وار ضعیف شو او هرې برخې د جلا دولت بڼه غوره کړه او یا هم په نورو کوچنیو برخو وویشل شو:

الف) شمالي چین د چنګیز ورور (اوتوکین نویان) ته وسپارل شو، وروسته بیا ټول چین ونیول شو او پلازمېنه یې د پیکنګ ښار و ټاکل شو چې د خان بالیغ په نوم یاد شو.

ب) د کاشغرستان له پولو نیولی د بلغاریا تر پولو پورې (د نن ورځې د روسیې د قازان تر سیمو پورې) د سیحون، خوارزم، د قیچاق دښتې، د ارال او لویدیزې سایبریا پورې ټولې سیمې د چنګیز زوی جوجي خان ته وسپارل شوې او د سرای ښار یې پلازمېنه و ټاکل شوه.

ج) د کاشغرستان، فرغانه او ماوراء النهر پلازمېنه د فناس ښار و ټاکل شو او د چنګیز زوی چغتای ته وسپارل شوې.

د) اصلي یورت (د کرولین د سیند د غاړو درې، انون، اورخون او د قراقروم د غرونو لمنې) چې پلازمېنه یې د قراقروم ښار و او د چنګیز کوچني زوی تولي ته وسپارل شو.

هـ) د الاکول د سیند غاړې، د تا بارګاتای د غرونو شاوخوا او د ایمیل د نهر حوزه (د مغلستان په لویدیځ کې) اوکتای د چګیز ولیعهد ته وسپارل شوې.

په دغه ویش کې ایران او افغانستان نه وو راغلي، بلکې افغانستان په سیده توګه د خاقان کل له خوا د یوه والي په لاس او دهغه له خوا د یوه نظامي ټاکل شوي قوماندان په لاس اداره کیده، دغه والي به د خراسان د حاکم یا امیر په توګه کله په بادغیس کې، کله په تخار او کله هم په طوس او نسا کې اوسید، چې له افغانستان څخه پرته یې شمالي ایران هم اداره کاو، خو د جنوبي ایران سیمه بیزو واکمنو د جنوبۍ ایران مالیات د مغلو حکومت ته ورکول. د ادراې دغې بڼې څو کلونه دوام وکړ تر څو چې (منګوقا آن) خاقان کل یا لوی خاقان شو. هغه خپل ورور هلاکو خان و ګوماره چې بغداد ونیسي او د ایران اسمعیلیه له منځه یوسي. هلاکو په ۱۲۵۴ کې په شمالي ایران کې دیره شو او عراق یې ونیو، بیا یې افغانستان خپل واك لاندې راوست نو په دې توګه افغانستان د یوه هېواد په توګه دداسې یوه امیر

Scanned by CamScanner

تابع و، چې د خراسان د امیر په توګه د طوس په ولایت کې اوسید چې ځانګړې وزارت یې درلود او د
جلا دیوان خاوند و.

د چنګیز لـه مهال څخه بیا د تیمور تر مهال پورې کله د مغلستان لـه دربار څخه او کله هم د ایران د
ایلخان له دربار څخه د افغانستان امیران نامتو کسان او زیاتره د مغلو شهزاده ګان غوره کیدل. دوی به
ټول افغانستان او د هغه سیمه ییز امیران اداره کول. دوی به له همدې ځایه مازندران او ګرګان هم اداره
کول. دغه حالت په ایران او افغانستان کې د امیر تیمور ګورګان تر راتګ پورې دوام وکړ، خو په دغه
موده کې افغانستان د ایران او ایلخاني دولت او د ماورالنهر د چغتایي دولت ترمنځ د کشمکش په
حالت کې و. دا ځکه چې چغتائیان د بلخ تخارستان او غزني او بامیان په ولایتونو کې د حکومت کولو
غوښتونکي وو، ځینې وخت به یې جګړه، ورانی او یرغلونه هم کول چې له یوې خو دا پیښې د ایران د نا
آرامي لامل کیدې او له بل خوا د افغانستان په شمال لویدیځ کې د کرت په حکومت باندې د سیاسي
زور لامل هم کیدې، د بېلګې په توګه کله چې په ۱۲۲۹ کال کې د ماورالنهر چغتایي پاچا براقخان له
جیحون څخه را پورې وت او په افغانستان کې یې بلخ او بدخشان تر مرو او نیشاپور پورې ونیول، نو
ددې عمل پـه وړاندې آباقا آن د ایران ایلخاني پاچا خپل پوځ د هرات تر پینځه فرسنګه واټن پورې
راوست او سوه و نښتل، سره لـه دې چې براق ماتې و خوړاه او بیرته ماورالنهر تـه ولاړ، خو د هرات
واکمن ملك شمس الدین کرت چې ددوو دښمنو لښکرو ترمنځ ناپېیلې پاتې و، هم پـه ۱۲۷۷ کې په
تبریز کې د اباقا آن له خوا مسموم کړل شو؛ په ۱۲۹۵ کې یو ځل بیا د ماورالنهر مغل د براق چغتایي د
زوی (اوجاي خان) په مشري یو ځل بیا د ماورالنهر مغل پر افغانستان را خواره شول او زیات ورانی یې
وکړ. امیر نوروز وکولای شول چې د چګړې په ترځ کې هرات تـه نږدې هغوی تـه ماتې ورکړي او پـه زور
سره یې بیرتـه لـه جیحون څخه پورې باسي، خو څه موده وروسته بیا پـه پخله امیر نوروز خان د
ایلخانیانو د نامتو پاچا غازان خان د غوسې وړ وګرځید او پـه ۱۲۹۲ کال کې یې اویا زره مغل لښکر په
هرات ور وستل او هرات یې کلا بند کړ او نوروز د ملك فخر الدین په مرسته د غازان خان له خوا د لیږل
شوي قوماندان قتلغ خان په لاس ووژل شو.

همدارنګه په ۱۳۱۲ کال کې شهزاده (یسور) چغتایي د بادغیس اوسیدونکي د ایلخاني دولت پر ضد
پاڅون وکړ او د طوس ولایت یې ونیو او بیا ورپسې د هراست او سیستان د نیولو پـه لټه کې شو، خو
ملك غیاث الدین کرت وکولای شول چې هغه پـه شا و تمبوي او خلك د هغه له یرغلونو څخه وغوري. په
۱۳۲۲ کال کې چغتایي پاچا تر ماشرین خان یو ځل پر افغانستن یرغل وکړ او تر غزنین پورې را
ورسید، البته سلطان ابو سعید بهادر خان ایلخاني نه پـه کرار کید، نو لښکرو یې پـه غزنین کې تر
ماشرین خان ته ماتې ورکړه او ډیرې آبادي یې ویجاړې کړي، آن دا چې د سلطان محمود غزنوي زیارت
هم وران شو دا یواځې نه، بلکې د افغانستان مغلو او ماورالنهر چغتایي مغلو کله کله د افغانستان له
ختیزو ولایتونو څخه پر هندوستان هم یرغلونـه کول چې دغـو یرغلونو بـه د افغانستان خلکو تـه زیان
اړاو، د بېلګې په توګه مغلو له افغانستان څخه پـه ۱۲۴۱ کال کې پر لاهور یرغل وکړ او پـه ۱۲۴۴ کې

Scanned by CamScanner

يې په لکنهوتي او په ۱۲۴۵ کې يې په سند او ملتان باندې يرغلونه وکړل او په ۱۲۴۸ يې بيا پر لاهور او ملتان او د ۱۲۲۵ او ۱۲۸۵ کلونو ترمنځ يې څو ځله د سند له سيند څخه پورې غاړه يرغل وکړ او د ۱۲۹۲ او ۱۳۱۲ کلونو تر منځ يې پينځه ځله پر سند، سوالك او پنجاب او بيا يې د سلطان محمد او سلطان فيروز شاه تغلقي پر مهال په ۱۳۲۴ - ۱۳۸۲ کلونو کې دوه ځله په ګجرات يرغل وکړ او جګړه يې توده وساتله. په دې توګه دغه ټولې جګړې د افغانستان په خاوره کې وې او يا هم د لښکرو ليږل ټول د افغانستان له لارې وو او دا د افغانستان د خلکو په زيان وو.

د چنګيز خان له مړينې وروسته په ۱۲۲۸ کال کې د دوو کلونو لپاره اوګتاى خان د کرولن د نهر د غاړو په فورينتاى خاقان شو. هغه د خپلې خاقاني پر مهال دوو خواوو (چين او منځنۍ آسيا) ته د مغلو سوقيات پيل کړل.

د لويديز لوري سوقيات يې په افغانستان کې د مغلي پخواني والي (جرماغون نويان) په مشرۍ وو، چې سل زره مغلي عسکر او حشري ور سره و او موخه يې د سلطان جلال الدين له منځه وړل او د ايران له خوا ډاډمن کيدل و. جرماغون خان ايران ته ورساو او د افغانستان حکومت يې په ۱۲۳۲ کې (جنتمور) (په خوارزم کې د جوجي خان پخوانى حاکم) ته ورکړ. تر دې مهال پورې د مغلو نظامي افسر (طاير بهادر) چې د بادغيس په لوړو کې له يوه ځواکمن پوځ سره ميشت و، افغانستان د چنګيز په استازيتوب اداره کاو، دغې نظامي اداري کليني ماليات په مقاطعه ورکول او اجاره دار به د هغو په ټولولو کې له ډير تاو تريخوالي زور او ظلم څخه کار اخيست او هر (يام) به د خپلو لګښتونو په نوم خلك لوټل، دا ځکه چې په هر يام کې به پنځه سوه اسونه نوکريوال ول، په دې توګه به ايلچيان له يوه يام څخه تر بل پورې سپاره تلل. هر ايلچي دا دنده درلوده چې په يوه ورځ کې شپېته فرسنګه آس وځغلوي ترڅو ډاك (پوستې او مخابرات) ډير ګړندي ډول باندې تر سره شي، ددغو يامونو او ټولو آسونو او ايلچيانو (ډاکيانو) لګښت د افغانستان پر خلکو وو، آن دا چې يو مهال خپله مغل هم ددغو درنو مالياتو په دروند والي باندې پوه شول چې وروسته يې بيا په هر يام (پاده) کې د آسونو شمير پنځلسو ته را کم کړ او په هر يام کې چې دوه تنه (پيك) مقرر و تر څو اخبارونه له يوه يام څخه تر بل پورې ورسوي، دوى په دې و ګومارل شول په يوه ورځ کې ۳۰ فرسنګه لار ووهي. په دې توګه د ايلچي، يام او د هغو د آسونو لګښتونو هغه يو بل دروند بار او فشار و، چې پر خلکو باندې بار و، چې دغه دروند والى د مغلو خپلسري او مطلق العناني له امله و، دا ځکه چې د مغلو لښکر په خلکو باندې د بارونو د زغملو په برخه کې پوره واك او آزادي درلوده.

له هغه وروسته چې جنتمور حاکم وټاکل شو او افغانستان ته راغى حکومت له نظامي بڼې څخه ووت او د جنتمور وزارت خواجه شرف الدين خوارزمي ته وسپارل شو. ملك بهاالدين محمد جويني هم د لويو اداري رجالو په ډله کې د صاحب ديوان په توګه مقرر شو او ملك بهاء الدين د نيشاپور والي شو. دغو بدلونونو د هېواد اداره او د مالياتو ټولول تر نظم لاندې راوستل. سر له دې چې جنتمور د پيسو او مال په ټولولو کې لوى حرص درلود، خو بيا هم خلکو د جرماغون په پرتله چې غوښتل يې له طاير بهادر سره يوځاى چې د مغلو نظامي قوماندان و او د افغانستان حکومت ونيسي، جنتمور ته په ښه سترګه کتل.

Scanned by CamScanner

د لومړي ځل لپاره د افغانستان يو سيمه ييز واكمن بهاالدين مغلوك د جنتمور په بلنه د مغلو د خان دربار ته ورغی، همدې خبرې د اوګتای په دربار کې د جنتمور دريځ لوړ کړ، دا ځکه دا لومړی ځل و چې له افغانستان څخه يو واكمن په اطاعت او تواضع سره د مغلو دربار ته ورغلی و. جنتمور په ۱۲۳۵ کال کې ومړ.
په افغانستان کې د مغلو د لښکر د قوماندانۍ چارې دا مهال د (نوسال) په لاس کې وې چې وروسته د جنتمور له مړينې څخه د افغانستان امارت ته ورسيد، خو د هېواد صاحب ديواني د خواجه بهاالدين محمد جويني (د تاريخ ليکونکی عطا ملك جويني پلار) په لاس کې وه. دغه سړی د (آزاد وار جوين) د کلي و، چې پلار يې شمس الدين محمد جويني د سلطان محمد خوارزمشاه د ديوان مستوفي او نيكه يې خواجه بها الدين محمد بن علي د خوارزمشاه د ځانګړو د بيرانو څخه و. دده ماما منتجب الدين جويني هم د سلطان سنجر سلجوقي د بير (منشي) و، وروسته بيا عطا ملك جويني ددغه دوهم بهاالدين محمد زوی د افغانستان د مغلي والي امير ارغون د بير او بيا وروسته د ايران د مغلي پاچا هلاكو د بير او د بغداد والي شو. همدا سړی يو مهال د بغداد په آبادي او كرنه كې ډيره پاملرنه وكړه او د (جهانګشا) په نوم يې يو ډير ارزښتمن تاريخ وليك. د هغه ورور دوهم شمس الدين محمد د هلاكو خان نامتو وزير او د هغه د زامنو اباقا آن او خدا بنده وزير هم و چې د ايران د مغلي دولت په سمون او سمبالتيا كې يې ډير اوچت لاس و. هغه او د هغه كورنۍ د ايران د شاعرانو او له هغې جملې څخه د نامتو شاعر سعدي شيرازي د ستاينې وړ و ګرځيد.
د شمس الدين اوه وراره زامن فاضل خلك وو، چې په هغو كې يوازې يو يې په عجم عراق كې د اباقا آن له خوا حاكم شو چې دريم بهاالدين نوميد، او هغه يو ډير ظالم او غوسه ناك و، خو دده نور وروڼه لكه خواجه هارون د خدا بنده له خوا په موصل او بكر كې حاكم نرم سړی و چې وروسته بيا اربل او بيا په بغداد كې حاكم شو چې د خپل مهال له نامتو فاضلانو څخه شميرل كيد. ددغې كورنۍ لكه د برمكي دكورنۍ په شان خپل استعداد د يوه نيواكګر دولت په واك كې وركړی و، او هماغسې هم لكه هغې كورنۍ په شان له منځه يووړل شول.
په افغانستان كې د نوسال د امارت پر مهال بها الدين محمد جويني صاحب ديوان و چې د مالياتو د اداري په تنظيم او سمبالولو كې يې ډيرې هڅې وكړې، ترڅو چې نوسال په ۱۲۳۹ كې ومړ. په همدې كال د اوګتای قا آن له دربار څخه د (كركوز) په نوم د افغانستان د امارت فرمان صادر شو. نوموړی په اصل كې يو ايغوری ترك و چې په ليك او لوست باندې پوهيد. هغه په پيل كې د مغلو د ماشومانو لپاره د يوه ښوونكی او د ايغوري ليك د لارښوونكی په توګه كار كړی و، وروسته بيا د چنګيز د زوی (جوجي) د بير شوی و، وروسته ورپسې د خوارزم د حاكم د جنتمور حاجب شو چې دغه حاكم يو مغلي حاكم و. قا آن اوكتای، كرګوز د هغه د سواد او پوهې او فصاحت او كفايت له مخې غوره او په افغانستان كې يې د نوسال د امارت په دوره كې د مالياتو د تحصيلداري او اداري چارو لپاره را ولېږه. كرګوز د بها الدين محمد جويني په مرسته د چارو په اداره بوخت شو او په پای كې د افغانستان امير وټاكل شو. هغه خلكو سره ښه چلند غوره كړ د ابادي لپاره يې كار وكړ او د مالياتو د مامورينو د ناوړه

استفادې د مخنيوي په خاطر يې د ماليي ورکوونکو وګړو په سر شميرنه لاس پورې کړ. هغه د طوس کنډواله چې په هغې کې له پنځوسو کورونو زيات نه وو، او د هر کور بيه له دوو نيمو دينارو زياته نه وه، د نيشاپور د ولايت د حکومت پلازمېنه وګرځوله (چې وروسته بيا د خراسان ايالت شو) او په طوس کې يې کورونه جوړ او کاريزونه يې وکنيدل او په دغه ښار کې د يوه کور بيه له دونيم ديناره څخه دوه نيم سوه دينارو ته لوړه شوه، خومتعصبو مغلودا ډول شخص نه خوښاو نوځکه يې د شرف الدين خوارزمي په مرسته چې د سيمې يو مضر عنصر او د مغلو د دستګاه يو مامور و، د نوموړي په ضد توطيې او لمسونونه تر سره کړل. کله چې اوګتای مړ شو او د سلطنت چارې او نيابت تورا کينا خاتون يعنې د اوکتای د را تلونکې ځای ناستي ګيوګ خان مورته ورسيدلې، د کرګوز مخالفينو هغه په ۱۲۴۳ کې د چغتای د لمسي (قرا اوقول) په لاس کې ورکړ. هغه امر وکړ چې د کرګوز خوله له تيږو څخه ورډکه کړي چې هغه مړ شي.

په همدې کال کې تورا کيناخاتون د کرګوز په دوره کې د افغانستان د امارت مرستيال او د اوکتای قا آن پخواني دبير امير ارغون (چې د اويرات د قبيلې و) د کرګوز پر ځای يد افغانستان امارت ته وټاکه وروسته بيا ګيوګ خان په افغانستان کې منګوته نوين د لښکرو د قوماندان په توګه وګوماره. هغه په د خار په پراخه سيمه (کندز، تالقان او والوالج) کې کېږدې وهله او ګرځيد را ګرځيد به. خو دغه نوی امير (ارغون) د ايران، افغانستان او نژدې ختيځ واکمنی يعنې د دريواړو هېواد و حکومت يو ځای په لاس کې لرل. ارغون يو هوښيار، مدبر او باسواده و چې د مغلو د دولت تر ټولو ښه سړی و. هغه په افغانستان او ايران کې د مغلو د ظلمونو په کمښت کې کار وکړ او ماليات يې تثبيت او کم کړل او هم يې يو شمير سيمه ييز کارپوه او فاضل خلك د باور وړ وګرځول او د حکومت په چارو کې يې شريك کړل. خواجه بهاو الدين محمد جويني په آذر بايجان، کوچنۍ آسيا او ګرجستان کې د هغه نايب او ډير نژدې مرستيال و ترڅو چې په ۱۲۵۲ کې ومړ. همدارنګه عطا ملك جويني لس کاله د امير ارغون د بير او منشي و.

سره له دې چې طوس يعنې د هغه مهال د افغانستان د شمالي سيمو پلازمېنه وه، چې د ارغون پر مهال ښه آباده شوه، خو زياتره وخت به (نسا) د امير ارغون د واکمنې ځای او مقر و. په ايران او افغانستان کې د امير ارغون د واکمنې موده تر ۱۲۵۴ پورې يعنې ايران ته د هلاکو تر راتګ پورې وه. له هغه وروسته دغه امير د مغلستان د دربار د فرمان له مخې د هلاکو خان په چوپړ کې شو او ايران ته د هلاکو په راتګ سره د افغانستان وضعيت هم بدلون وموند او د هرات د کرت د سيمه ييز حکومت دريځ اوچت شو.

يعنې افغانستان ته د چنګيز له راتګ څخه وروسته ايران ته د هلاکو خان تر راتګ پورې، وروسته تر ۳۵ کلونو په مغلستان کې د چنګيز د درې ګونو ځای ناستو: اوګتای خان ۱۲۲۸-۱۲۴۱، ګيوګ خان ۱۲۴۱- ۱۲۴۹ او منګوقا آن ۱۲۵۰- ۱۲۵۸ او بيا وروسته تر هغه د قبلای خان په لاس ددغې امپراتورۍ پلازمېنه له مغلستان څخه چين ته وليږدول شوه) څخه د افغانستان سيده اداري اړيکې د مغلو له دربار سره وشلېدې، چې له يوې خوا د ايران له مغلي دربار سره دغه روابط ټينګ شول، له بلې خوا په خپله په افغاستان کې دننه د سيمه ييزو حکومتونو بنسټونه و درول شول او همدارنګه د

افغانستان د سیمه ییزو مخورو واك هم اوچت او په اداره کې برخمن شول. همدې وضعیت ۱۲۰ کال نور هم دوام وکړ. تر څو چې امیر تیمور ګورګان را ورسید او یو ځل بیا یې له منځه تللی افغانستان په بل مخ واړاو.

ایران ته د هلاکو خان له راتګ (۱۲۵۴ کال) څخه وروسته د ابو سعید تر مړینې (۱۳۳۵ کال) پورې، یعنی د اتیا کلونو په ترخ کې، په ایران کې نهه تنه څواکمن مغلي پاچایان په ایران کې تیر شوي دي لکه هلاکو (۱۲۵۴)، اباقا آن (۱۲٦۴) تکودار سلطان احمد (۱۲۸۱). ارغون خان (۱۲۸۳)، کیخاتو (۱۲۹۰)، بایدو خان (۱۲۹۴)، غازان سلطان محمود (۱۲۹۴)، اولجایتو سلطان محمد خدا بنده (۱۳۰۳) او ابو سعید بهادر خان (۱۳۱۲ - ۱۳۳۵). دغو ټولو په افغانستان کې پوره واك درلود او د هغوی حکام چې د خراسان د امیرانو په نوم یادیدل، د هېواد په شمال لویدیځ کې او زیاتره په طوس کې کیناستل او له هغه ځایه به یې د افغاستان اداره کوله لکه شهزاده اباقا آن د هلاکو زوی (چې د هلاکو له خوا) شهزاده یشموت د اباقا آن ورور (د اباقا آن له لخوا) شهزاده ارغون د اباقا آن زوی (د تکودار له خوا)، شهزاده غازان د ارغون زوی او د هغه نایب امیر نوروز (د مغلستان د مرکز له خوا) او میرات د امیر ارغون زوی (د ارغون له خوا)، انبار چې د منګو تیمور زوی د (د کیخاتو له خوا) شهزاده غازان (د بایدو له خوا)، امیر نوروز (د غازان له خوا) شهزاده ابو سعید د اولجاتیور زوی او د هغه نایب امیر سونج (د اولجایتو له خوا) او امیر بساول او ناري طغاي او امیر شیخ علي (د ابو سعید) له خوا دلته ټاکل شوي وو.

د ابو سعید بهادرخان له مړینې وروسته د ایران مغلي دولت کاواکه شو او مخ په ځوړ روانشو چې د شلو کلونو په ترخ کې اته پاچایان لاړل او راغلل. درباري او نظامي اشراف او د ولایتونو فیوډالان هر یو د خپل شخصي واك- رسوخ د ټینګولو په هڅو کې وو چې په پایله کې ایران په څو ټوټو بیل شو، په تیره بیا د مغلو د مرکزي دولت د موجودیت پر مهال هم د هغوی د واکمني په ځینو سیو کې سیمه ییز واکمن چې باج به یې ورکاو، موجود وو. دغو ټولو د مرکزي دولت له ضعف څخه استفاه کوله او هر یو د یوه خپلواك کوچني دولت په بڼه را څرګند شول. د عراق ال جرایر د آذربایجان شپانه امیران، د یزد آل مظفر، د پارس اینجویان، د پارس او لرستان اتابکان او نور ټول په دې ډله کې راتلل. د ایران دغو پېښو په افغانستان کې هم اغیزه وکړه او د هرات د کرت دولت بشپړه خپلواکي تر لاسه کړه، په دې توګه په افغانستان باندې د مغلو واك پای ته ورسید. د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د سیمه ییزو رهبرانو لپاره سیاسي فعالیتونه پیدا او ورو ورو د کوچنیو اداري مرکزونو په بڼه را څرګند او سیاسي ژوند یې بیا لکه د پخوا په شان پیل کړ. د بېلګې په توګه په فراه او سیستان کې سیمه ییزو امیرانو واك تر لاسه او ځان یې خپلواك کړ، همدارنګه په طوس او نیشاپور په ولایتونو کې طغا تیمور خان په ۱۳۳۲ کې خپلواك شو، خولړ وروسته ووژل شو. په ایران کې هم مغلي پاچا جاني بیك خان د قبچاق په دښته یرغل وکړ او په ۱۳۵۷ کې یې د آذربایجان د شپنو امیران وځپل.

Scanned by CamScanner

## ټولنیز او اقتصادي وضعیت

د چنګیز خان له مړینې وروسته د مغو په لاس د نیول شویو سیمو دننه یو ځانګړی وضعیت موجود و چې ددغه وضعیت بېلګه د یوې نیمې پیړۍ په ترڅ کې په ټوله آسیا کې نه تر سترګو کېده. په دې معنا چې د هېواد ټول اقتصادي او فرهنګي مرکزونه نړیدلي وو او نور نو د وریښمو د لارې کاروانونو په بلخ اوهرات او نیشاپور کې نه اړول. بلکې ددغو ښارونو د کنډوالو له څنګ څخه به په ډېرې خواشیني سره غلي غلي تیریدل. دا ځکه چې نور نو هلته کوم بازار او انسان نه تر سترګو کېد، نه هم کومه راکړه ورکړه وه او نه هم کومه داسې اداره وه چې مالیات ورکړي. یواځې د کونګانو غمجن غږونه اوریدل کیدل چې ددغو له منځه تللو ښارونو په مړینه یې ساندې کولې. همدارنګه د هند د سوداګریزو قافلو زنګ نور د کابل، بست، غزني او سیستان په مړو ښارونو کې نه اوریدل کېد او انګازې یې نه کولی.

د هېواد نور ښارونه لکه بدخشان، تخار، بلخ، جوزجان، فاریاب، مرغاب، مرو، هرات، نیشاپور، سیستان او زابل او کابل چې ددغه هېواد د خلکو د یو نیم زرو کالونو د کار او هلو ځلو پایله وه او د بشریت د ژوند د څو زره کلونو د تاریخي تکامل یوه ثمره وه، ټول له منځه تللي و او ټول هنر، فرهنګ او صنعت یې له ځانسره وړی و د ښارونو شاوخوا ټول کلي او کورونه او د لویو لارو په څنګ کې ټولو ودانیو خپله خوانه د کار نیرو له لاسه ورکړې وه. ځوانې ښځې چې د بل راتلونکی نسل روزونکی وې له پیشه ورانو او کسبه کارانو سره بندیانې شوې وې او ځوانان ټول حشر ته استول شوي وو. څاروي هم دښمن لوټ کړي وو، او د کرنې او اوبو لګولو وسایل ټول ویجاړ شوي وو. کومه بټۍ او کارخانه نه وه پاتې چې یو بیل یا یوم او کولبه جوړه کړي. کرنیزې ځمکې د نیواکګرو د رسالو په څړ ځایونو اووښتې وې.

له دې امله چې هیڅ مدرسه، کتابتون او ښار نه و پاتې، د دښمن له لاسه ژوندي پاتې شوی علما او پوهان هند، ایران او نژدې ختیځ ته تښتیدلي وو او یا یې هم خپل خواك د دښمن په اداره کې کار کولو ته ورکړ. یواځې هغو لږ شمیر خلکو خپل ژوند ساتلی و چې ډیرو لرې سیمو دښتو او د غرونو په پیچو موکي یې ډیر ساده ژوند درلود او د مغلو له نظامي مرکزونو او لویو لارو څخه په څنګ وو. همدوی افغانستان له ابدي نابود کیدو څخه ژغوره او یو بل راتلونکی ملت یې جوړ کړ او په دې توګه د افغانستان څو زره کلن تاریخي مزی له راتلونکی سره پرې نه شو. خو د خلکو ژوند یواځې او یواځې د کرنې او څارویو روزنې په کړه کې پاتې و چې دښمن یا هم دولت ته به یې تر ظلم لاندې مالیات ورکول. نور نو د فرهنګ، صنعت او سوداګریزو تولیداتو کومه نښه نه وه پاتې او په خلکو کې هم د رزم او بزم، شوق او شطارت کوم خواك او هیله نه وه او د ادب شوق او تازه ګي هم له منځه ولاړه. په افغانستان کې د مغلو له را برسیره کیدو څخه بیا د امیر تیمور ګورګان تر مهاله پورې د یوې نیمې پیړۍ په ترڅ کې افغانستان په یوه مادي او معنوي ژوره تیاره کې ژوند وکړ. د مغلو واکمنو او قوماندانانو په دغه هېواد کې یواځې د یوه ساتونکی خواك او حکمران په توګه واك وچلاو چې د هېواد څړ ځایونه او شنې لمنې یې په خپلو رمواو ګلو او کیږدیو باندې نیولې دې، نور نو دوی د مدرسې. ښار. بازار، صنعت او کرنې

د تخارستان، بلخ، جوزجان، فاریاب، غرجستان، د جوړولو او پرمختګ په برخه کې اړتیا نه درلوده. د تخارستان، بلخ، جوزجان، فاریاب، غرجستان،
مرو، نسا، ابیورد او د فرا، د دښتو او د هزاره جات غرونوا و نورو ځایونو د مغلو ځاروي مړول او د
افغانستان خواریکښو خلکو د مغلو د لښکرو او واکمنو لښکر ته خوراك چمتو کاو، د هغوی تجملي
سامانونه له هندوستان، چین او ایران څخه د کاروانونو په شارا رسول کیدل. نو په دې توګه مغلو دا
اړتیا نه لیدله چې لکه د هند، ایران او چین په شان دلته صنعت ژوندی وساتي، خو یواځې د افغانستان
په شمال لویدیځ کې چې د ایران له مغلي دولت سره نژدې و لږ څه صنعت ژوندی پاتې و.

کله چې د چنګیز له مړینې وروسته د افغانستان خلکو په ډیرو سختو مادي شرایطو کې ژوند کاوار
روحیه یې ډیره غمجنه وه او له ښارونو لرې په غرونو او درو کې اوسیدل، د دوی برخلاف د مغلو لښکر
خوښ او خوشحاله وو او په زر کسیزو کنډکونو کې یې په شنو چمنونو او ورشوګانو کې کیږدۍ وهلې
وې او له زرګونو ځارویو سره یو ځای یې د وښو په خوړلو او د خلکو د وینو په څښلو ژوند کاو. کندز،
تالقان، اشکمش او په تخار کې روستاق، په هزاره جات کې لعل او کرمان، په هرات کې بادغیس او
نورې شنې دښتې او په افغانستان شنه ځایونه ټول د مغلو د ځارویو په څرځایو بدل شوی وو. په
افغانستان کې د مغلو د واکمنۍ مرکز کله یورت (د کیږدیو ښارونه)، کله په بادغیس او کله هم په
تخارستان کې او کله هم نږول شوي طوس ته لیږدول کیدل، چې له پنځوسو کورونو زیات څه نه وو پکې
پاتې. دغه حکومتونه ډیر ظالم او خپلسري وو. دوی په پیل کې د سیمې له خلکو څخه لږ مالیه اخیستله
چې په دغه مالیه کې لس یا سل ګزه کرباس او له هرې کورنۍ څخه یو څه غله پکې راتله، آن دا چې په
خپله چنګیز له شمالي چین څخه څلویښت زره انډي غله او اتیا زره ټوټې وریښم او یو څه پیسې د مالیې
په توګه تر لاسه کول، خو وروسته بیا جنتمور د افغانستان مغلي حاکم د مغلي سپاهیانو په سترګو کې
د مال مینه زیاته کړه او له خلکو څخه په زور باندې د مال اخیستو او خلکو ته کړاو ورکول دود شول، تر
څو چې خلك اړ شول چې خپله ټوله شتمني مغلو ته ورکړي، پرته له هغه وژل کیدل. له پخوا بر خلاف په
مړګ باندې محکومو خلکو هم کولای شول چې ځان او خپل ژوند په بیه واخلي، خو د مغلو سزاګانې
ډیرې درنې وې. اوګتای خان د چین له نیولو څخه وروسته له ماتې خوړلیو چینائیانو سره ډیر بد چلند
وکړ چې په تاریخ کې ساری نه لري، خو د مغلو د اشرافو دغه بد چلند یواځې نیول شویو سیمو کې نه و،
بلکې دوی د مغلو په طایفو باندې هم په عوامو همداسې ظلمونه کول د بېلګې په توګه د مغلو یوه
طایفه چې د اوګتای خان دغوسې وړ وګرځیده، هغوی ټولې هغه نجوني چې له اوه کلنۍ څخه پورته
عمرونه یې درلودل او شمیر یې ۴۰۰۰ ته رسیده په عام محضر کې له منځه یوووړل شوې فاطمه
خراساني چې د ګیوګ خان د مور په دربار کې په حرمسرای کې په کار بوخته او هلته ډیره د قدر وړ وه د
جادوګرې په تهمت څو شپې او ورځې وکړول شوه لوڅه او وږی او تږې د خلکو په مخکې شکنجه شوه او
بیا یې سوړې ور وکنډلې او په لیمځې کې یې وپیچله او اوبو کې یې واچوله.

همدارنګه کله چې چغتای خان ناروغ شو او بیا مړ شو، د هغه ښځې (بسلون) امر وکړ چې هجیر ترك د
هغه وزیر او مجد الدین د هغه طبیب او د هغه پرستار دریواړه د دوی له کورنیو سره په تورو ووژني.

Scanned by CamScanner

په هر صورت؛ د مغلو واکمنو د افغانستان له خلکو څخه په هر کال کې په همدغو ظالمانه لارو چارو څو ځله مالیه ټولوله، تر څو د دوی د لښکر، ایلچیانو، حشریانو، یام، پراوونو او لیږدولو لګښتونو وربانديې پوره کړي. د خلکو له وس څخه دغه ډیر پورته بار د وګړو د له منځه تګ تر بریده ویروونکی و.

آن دا چې د منګو خان په دربار کې طرح شوه او فیصله یې وکړه چې په راتلونکې کې دې په کال کې یو ځل له خلکو څخه مالیات را ټول شي او هر خوار او بډای به له یو دینار څخه تر لسو دینارو پورې مالیات مغل ته ورکوي. امیر ارغون د افغانستان حاکم یو شمیر کاتبان او امیران و ګومارل چې خلک وشمیري او د رعیت له هرو لسو تنو څخه اویا رکنی دینارونه په یوه کال کې مالیه واخیستل شي، خو وروسته بیا دا حال بدل شو. هلاکو خان د ایران مغلي واکمن افغانستان خپلې اداري لاندې راوست او تر خپلې واکمنۍ لاندې وګړو مالیات یې بیرته اوچت کړل. هغه له بډایو خلکو څخه په یوه کال کې له هر تن څخه پنځه سوه دیناره او له بیوزلو څخه یې یو دینار اخیست. شرف الدین خوارزمي چې یو سیمه ییز موذی او خاین شخص و، د مغلو دولت ته یې وړاندیز وکړ چې د افغانستان او مازندران خلك څلور زره اندې سره زر (چې هر یوې پنځه مثقاله دي) باقیدار دي، په دې توګه په خپله همده ته دنده وسپارل شوه چې دغه نقده اندازه له خلکو څخه را ټوله کړي. هغه د خلکو په ربړولو او کړولو پیل وکړ، خلك به یې په لوږه له پښو غورځندول. ښځې به یې لوڅې له کورونو را وایستلې او له تیو څخه به یې غورځندولې او له هغوی څخه به یې پیسې غوښتې. لوټ شویو خلکو چې څه نه درلودل هغوی به خپل ماشومان په بډایو پلورل او د هغو پیسې به یې د مغلو حکومت ته ورکولې. د کیخاتو پر مهال په ایران او افغانستان کې د هغه د قلمرو (وربوی) مالیات یو زر او اته سوه تومانه کیدل چې په هغو کې یې اوه سوه تمانه د حکومت بودجه او ۱۲۵ تومانه د دربار لګښت او نورې پاتې یې پس اندازونه وو، البته ددغو مالیاتو ډیره برخه د ایران برخه، کیدله نه د افغانستان، دا ځکه چې افغانستان له چنګیزخان سره په جګړو کې له بنسټه څخه وران او ویجاړ شوی و او اقتصاد یې برباد شوی و، حال دا چې ایران په لومړیو کې په شمالي سیمو کې یو څه تلفات درلودل خو له عام قتل او د ښارونو له نړیدو بچ پاتې شوی و. تبریز د ایران پلازمېنه وه چې دوه سوه زره تنه وګړی یې لرل چې د مغلو د واکمنۍ پر مهال دا په منځنۍ آسیا کې تر ټولو ګڼ میشته ښار بلل کید او د ختیځ او لویدیځ ترمنځ د سوداګرې لویه لاره وه چې د کیخاتو پر مهال د تبریز کلني مالیات اته سوه زره تومانه کیدل.

ایران د هلاکو له مهاله د ابو سعید تر مهال پورې د سیاسي خپلواکۍ پرته د سوداګرې، اقتصادي پرمختګ او په مراغه کې د نامتو ځار ځای (رصد خانه) لرونکی و. ایران د ارومیه د سیند تر غاړې، په چغتو او الاتاغ غره، اوجان، موغان، اران، اصفهان، شام غازان، تبریز او ری کې د لویو لویو ودانیو لرونکی هم شو او مرقدونه، جوماتونه، خانقاوې، روغتونونه، دار السیاده، کتابتونونه، متولي خانې، د اوبو ډنډونه، حمامونه، مانۍ او نور ټول پکې جوړ شول. د بېلګې په توګه په سلطانیه کې خیریه موسساتو له وقفونو څخه کال کې د یو میلیون تومنه په اندازه کلني عایدات درلودل اولس مدرسې او شل عبادت ځایونه یې لرل چې سل تنه طالب العلمان، شل تنه صوفیان، دولس حافظان، اته مؤذنان او

څلور تنه ښوونکي يې لرل چې د هر يوه معاش په يوه کال کې ۱۲۰ ديناره او د مدرس معاش ۱۵۰۰ ديناره و. د هغو دارالضيافيې ۳۰۰ ديناره تخصيص درلود ه چې هغې ته راتلونکو کسانو ته به پکې ښه راغلاست ويل کيدل. د نورو ماموړينو، مجاورينو، فراشانو، خادمانو، يتيمانو او رنځورانو او دارالسيادة معاشونه او لګښتونه له سل زره ديناروڅخه هم زيات کيدل، همدارنګه د شام غازان د خيريه مؤسسې له خوا تبريز ته نژدې (چې بيوزلو او يتيمانو سره يې مرستې کولې) په هر کال کې پنځه سوه ښځو ته هرې يوې ته څلور منه حلاجي شوي پنبه ورکول کيده.

د چنګيز خان د اولادې دغه چلنډ يواځې د ايران په هکله نه، بلکې چين، ترکستان، او ماوراالنهر او د قبچاق په دښته کې هم توپير لرونکی و. چنګيز يو ظالم او تيری کوونکی و چې په تړولو، وژنو او وينو تويولو سره يې سيمې نيولې او په اور او وينو سره يې ډير ملکونه ونيول او بيرته ستون شو او ولاړ مړشو، خو د هغه اولادونه د ډيرو پراخو ملکونو خاوندان شول او له چينايي او آسيايي دوو تمدنونو سره آشنا او مخامخ شول، نو په دې توګه په ختيځ او لويديځ کې له دواړو تمدنونو څخه اغيزمن شول چې ورو ورو په ټولو ټولنيز اړخونو لګه دين، سياست او اقتصاد کې د همدغو دوو تمدنونو تابع شول او د هېوادونو په اداره کولو کې يې د اړتيا له مخې ددغو هېوادونو د پوهو او باخبرو خلکو برخه اخيستل ومنل، نو په دې توګه په ايران کې د تاريخي بشپړتيا تلګوری پری نه شو.

په ماوراالنهر کې هم خلکو ته د ژوند کولو بيا ځلی وار ورکړل شو. د مسعود بيګ بن محمود پر مهال چې د ماوراالنهر د مغل اداري واکمن و، د هغه هېواد د جوړولو لپاره ډير کار وشو او بخارا او سمرقند له سره بيا ودان شول، آن دا چې د مغلو يوې ملکې (سر قويتي بيګي- چې د توليخان ميرمن وه) په امر په بخارا کې د يوې مدرسې د جوړولو کار پيل شو چې د هغې په خپل لګښت جوړه شوه، بيا يې د هغې لپاره يو څه موقوفات وټاکل او يو مسلمان عالم يې د هغې رياست ته وګوماره.

د قبچاق په دښتو کې د ولګا د سيند پر غاړه د (سراى) نامتو ښار ودان شو دغه ښار باتوخان جوړ کړ چې وروسته د آسيا تر ټولو لوی او ودان ښار و ګرځيد. د چين په پراخه هېواد کې د مغلو دولت د لرغونی تمدن ملاتړ وکړ او قبلاي خان د هغه مهال د يوه متمدن امپراتور په توګه د پيکينګ په ماڼۍ کې ژوند کاو. د همدغه مغلي پاچا پرتمين دوران د ايتاليې نړۍ ګرځيدونکی (مارکوپولو ونيسي) سترګې د بريښولې او دغه جلال او عظمت ته حيران شو، چې د هغه مهال اروپا ددغې خبرې په اوريدو سره هکه پکه شوې وه. قبلای خان په شلو کلونو کې جنوبي چين نيولی و او د (سونك) پاچاهي يې ور ړنګه کړې وه، هغه هند و چين او جاوا او جاپان ته لښکر وليږل. هغه يواځې يو سوبمن مغل نه و، بلکې د هغه پر مهال د چين په پراخه هېواد کې صنعت، کرنې او سوداګری ته لوی خدمتونه وشول.

په عراق کې هم د نوی بغداد ښار جوړ او هلته کلی، نهرونه او ښونه پراخ شول. عطا ملك جويني چې خپل هېواد کنډواله کنډواله او لکه د هديرې په شان پريښې و، د بغداد په نوي کولو کې يې هڅې وکړې. مغل په ناچارې سره د اسلام او چين تمدنونه و منل، دا ځکه چې د مغلو واکمنی له چين څخه تر مديترانې پورې يوې منظمې اداري ته اړتيا درلوده، نو ځکه د يوې اړتيا په توګه د مغلو دولت د نيول

شویو سیمو پوهو خلکو ته اړتیا لرله. آن دا چې په خپله چنګیز خان له هر بل چا زیات دغه اړتیا و پیژندله، نو ځکه یې له چین څخه (یوچوتسای)، له ایغور څخه یې (تاتاکوس) او له مسلمانانو څخه یې جعفر او محمود یاواج خپل دربار ته و منل او له هغو څخه یې سلا - مشورې تر لاسه کولې، د چنګیز اولادونه هم همدې کارته اړ وو، نو ځکه یې د وربوی اداره د نیولو شویو سیمو د خلکو په لاس کې ولویده چې په هغو کې یې زیات شمیر افغانان وو، لکه ملك نظام الدین اسفزاینی، اختیار الدین ابیوردي، عبدالملك مشرف الدین بطامي، بهاالدین مرغیناني او نور چې په هغو کې تر ټولو پوه او نامتو کسان خواجه نصیر الدین طوسي، خواجه شمس الدین جویني او عطا ملك جویني وو، چې دوی هر یوه د ایران او عراق د مغلي دولتونو په نظم او سمبالتیا کې او د دغو هېوادونو د فرهنګ په ساتنه او وده کې هڅه کړې وه.

نو په دې توګه مغل ورو ورو د اسلامي هېوادونو د تمدن تر اغیزې لاندې راغلل او په ترکستان (له جیحون څخه پورې غاړه)، د قبچاق په دښتو کې، ماوراالنهر او ایران کې د مغلو زیاترو پاچاهانو او نورو وګړو د اسلام دین ومانه او آن دا چې په خپله د اسلام ساتونکي شول او دوی د چینایي ژبې او دري ژبې د ادب په غوړېدا کې ډیر زیار وګاله. همدا د مغلو پر مهال دري ژبه په ختیځ کې تر ختیز ترکستان (کاشغرستان) پورې او په لویدیځ کې تر بغداد، عراق او د مدیترانې تر غاړو پورې ورسیدله او د اسلام دین هم چین ته ننوت. په دې توګه د اسلامي هېوادونو مهمو کسانو او مخورو د مغلو د دولت په اداره کې لاس او واك ومونده. په چین کې د منکو قا آن حاکم امیر محمود یاواج او په ماوراالنهر کې د هغه زوی امیر مسعود چې هلته حاکم و او په چین کې د قبلای خان وزیران سید اجل او میر احمد بناکتی او د چغتایي د دولت وزیران هر یو امیر جش عمید، او بها الدین مرغیناني له دغو کسانو څخه وو. په ایران کې دولتي چارې پرته له نظامي کارونو څخه نور ټول امورات د ایراني واکمنو په لاس کې وو، همدې وضعیت آن د مغلو د ایراني دولت تر نړیدو او له منځه تلو پورې دوام و موند، سره له دې چې دغه دولت د خپل پایښت په ترڅ کې په ایران کې خپل ټول مسلمان وزیران (پرته له تاج الدین علیشاه) څخه ووژل.

په خپله د سیمه ییزو وګړو، اشرافو او مخورو ترمنځ سیالي او د ځاني ګټو پر سر شخړې ددې لامل شوی چې دوی د مغلي دولت په لاس یو بل له منځه یوسي. د بېلګې په توګه امیر جش عمید د چغتایي وزیر په خپلو خبر لوځیو او توطیو سره د بیسو خان چغتایي وزیر بها الدین مرغیناني د (اور قینه ملکی) په لاس (چې د بیسو خان ځای ناسې وه) مړ کړ. همدارنګه د اباقان مشرف[1] مجد الملك یزدي او صدرالدین زنجاني د جوینانو د نامتو کورنۍ د له منځه وړلو په لټه کې وو، چې خواجه فخر الدین محمد د قزوین مستوفي (د نامتو تاریخ لیکونکی حمد الله قزویني د تره زوی) او علی تمغاجي او حسام الدین د ارغون خان مغل حاجب[2] د امیر بوقا په لاس د هغو وژلو ته و هڅول. ددې کارونو پایله له یوې

۱ - مشرف یو مقام او دنده ده

۲ - حاجب یوه دنده او مقام و. (ژ)

Scanned by CamScanner

خوا د فضل او پوهې ددغې کورنۍ له منځه وړل و او هم د پوهانو له منځه وړل. د ایران د مغلو مشهور وزیر خواجه رشید الدین فضل الله هڅې وکړې چې خواجه سعد الدین ساوجي له منځه یوسي، دوی دواړو یو بل سره دښمني لرله او هغه یې له خپلو ټولو نورو خپلوانو سره د خدا بنده په لاس وواژه. حال دا چې همدا برخلیک د خواجه تاج الدین علیشاه تبریزي په توطیه او دسیسه په خپله د خواجه رشید الدین په برخه شو چې د ارغون خان په لاس ووژل شو.

دغو پوهو خلکو چې له نیواکګرو دښمنانو سره لاس یو کړی و، په دې ترڅ کې چې د مغلو د پیاوړتیا لپاره او هم د فرهنګ د ژوندي ساتلو او له خلکو سره د ښه چلند لپاره کار کاو، نو همداسې یې هم د مغلو په ګټو کې هم ګډون درلود او په دې توګه دوی هر یو د خپل وخت ډیر شتمن خلک وو. د افغانستان د مغلي حاکم امیر ارغون وزیر وجیه الدین زنګي فرومندي دومره شتمني لرله چې د شهزاده ارغون په یوه غوسه یې دغه مغل شهزاده ته پنځه میلیونه دیناره یا درې زره منه (من د هغه وخت د وزن یو مقیاس چې له اوسنی اوه کیلو من سره یې توپیر درلود) سره زر او یوه اندازه ګاڼې ورکړې. خواجه شمس الدین جویني او د هغه کورنۍ لکه د برمکي د کورنۍ په شان د ډیرې زیاتې شتمنی لرونکی وو، آن دا چې خلکو ویل چې د شمس الدین د یوې ورځې ګټه لس زره دیناره وه البته د دومره شتمنیو لرل او ټولول په هغه وخت کې د مغلو دولت ته د خدمت کولو او د ولایتونو په حکومتونو کې د ریاست او یا د وزارت د مقام لرلو پورې تړلي و. نو په دې توګه ددې ډول مقامونو د تر لاسه کولو په خاطر او د شتمني د پیدا کولو په خاطر د دوی ترمنځ مسابقه وه. په دغه مسابقه او سیالي کې به یې هر څه ته لاس اچاو او آن توطیې او خیانت څخه یې هم ډډه نه کوله. د اشرافو او درباریانو همدا حال و، خو د روحانیونو حال هم تردې څخه کم نه و. مذهبي شیعه او سني علما پرته له څنډ یو بل سره اخته وو، هر یوه دا هڅه کوله چې هغه امیران او مغلي پاچاهان چې اسلام مني د دوی په کړۍ کې بند شي، نو ددې موخې د تر لاسه کولو لپاره یې د مغل په وړاندې د بل طرف مذهب سپك او باطل ښوده. دغه مذهبي جدال ورو ورو زیاتید چې په دې ترڅ کې یې هر ډول وسله او آن افترا، سپکاوی او تلعین هم کارول، آن دا چې مغلو په دې کې شکمن وو چې آیا کوم مذهب غوره کړي. د ایران د مغلي پاچا سلطان محمد او لجایتو خان پر مهال د هغه قاضي القضات قاضي نظام الدین عبدالملك مراغه یې و چې شافعي مذهبه و. هغه به نور مذهبونه رټل. یوه ورځ یو بل حنفي مذهبه عالم چې د صدر جهان بخارایي زوی و، د او کایتو خان اردو کې په دنده وګومارل شو او دربار ته یې لاره و مونده، خو ډیر ژر د مذهبي اختلافاتو اور ولګید، په دغو اختلافاتو کې دواړو علماوو یو د بل مذهبونه دومره وټکول او عقلاً او نقلاً یې رد کړل چې مسلمان شوي مغلان په غوسه شول او له اسلام څخه بیزاره شول، نو ځکه یې له سلطان او لجایتو څخه هیله وکړه چې ښه به وي چې پخواني چنګیزخان دین ته بیرو ته ور وګرځو، دا ځکه چې دغو دوو قاضیانو یو د بل مذهب ته هیڅ هم پرې نه ښودل چې زمونږ لپاره د منلو وړ وي، حال دا چې زیات شمیر عوام خلکو په فقر او بیوزلی کې او د مالیاتو تر درانه بار لاندې ژوند تیراو.

په هر حال، د نیول شویو سیمو د تمدن اغیزو په مغلو کې دا ومنله چې چیني تمدن به منځنۍ آسیا او

بیا اسلامي ملکونو او آن اروپا او ټولې نړۍ ته ور وپېژني. او د اسلامي دین او دري ژبه هم په چین کې و پېژندل شوه او د تاریخي او نجومو په علم کې له چین څخه ګټه اخیستل کېده. د چین انځور ګري په افغانستان او ماوراالنهر او ایران کې دود شوه او له سیمه ییزو سبکونو سره ګډه شوه. همدارنګه د مغلو د واکمنۍ پر مهال د نساجي صنعت اود زربفتو اوبدل چې سرچینه یې له هرات څخه وه له تغر او غالۍ جوړولو سره یو ځای په منځنۍ آسیا کې رواج پاتې شول. په آسیا کې ډېرې سیمې د مغولو په واسطه یو بل سره وتړل شوې. نه دې امله چې د لارو امنیت ډاډمن شوی و نو ځکه چین او مغلستان له ترکستان سره او ماوراالنهر او قبچاق دښتې له خوارزم او افغانستان سره او ایران له نږدې ختیځ سره تړل شوي وو. چې په دې سیمو کې د لښکرو، سوداګریزو کاروانونو او نړۍ ګرځیدونکو تګ راتګ زیات او له ختیځ څخه لویدیځ سره پېژندنه زیاته شوه. او په همدې توګه د مدیترانې بندرونه له شمال لوري څخه له ایتالیا او مصر سره او قسطنطینه له آسیا او روسیې په جنوب کې وتړل شول. وینسي او جینوایي سوداګرو به د تور سمندرګۍ له لارې له مغلو، قبچاقیانو او بلغاریانو او د کریمیا له خلکو سره سوداګري کوله. خیوه د چیني او مغلي کاروانونو مرکز شوه او د وریښمو لار یو ځل بیا پرانیستل شوه. د چین کاروانونه به له ختیز ترکستان څخه ماوراالنهر او ایران ته او له هغه ځایه به شام ته تلل، همدارنګه له سمرقند څخه به خوارزم، بلغاریا او بیا به هسترخان ته او د دن تر غاړو او آن د آزوف تر سیند پورې تلل. د هند کاروانونه به هم د افغانستان له کنډوالو څخه (لکه پېښور، کابل، بلخ څخه) مخ په خوارزم ورتلل. البته د هند سمندري لاره هم د هرمز بندر ته تلله او بیا به د کرمان او ګرګان له لارې خوارزم پورې رسیدله په دغو ټولو کاروانونو کې د ختیځ مالونه لکه د چین وریښم، د هند درمل، د جنوب ختیزې آسیا درملي بوټي، د افغانستان قیمتي ډبرې، د هند او سلیمون ګانې، د ماوراالنهر فرش، د ګرجستان وسلې، مرئیبان، لرګي، پومبه، مالګه، شات، پوستکي، موم، غلې- دانې، کبان او نور وو. خوله شپنۍ ژوند څخه ښاري ژوند ته د مغلو په بدلون او د سوداګري دغه پرمختګ او په ټولنیز ژوند کې د مغلو نرمښت افغانستان ته کومه ګټه و نه کړه، خو د هغوی له خوا نورو ونیولو شویو سیمو لکه چین، ترکستان، قبچاق او ایران ته یې ګټه وکړه آن دا چې ماوراالنهر هم ښه و. د دوی ښاري کیدل افغانستان ته ګټور نه و، دا ځکه چې افغانستان کې ټول د ژوند وسایل، صنعت، کرنه، مالداري او به لګول او ښاري ژوند او هر څه په کلکه له منځه تللي و، په راتلونکو یو نیم سل کلونو کې د افغانستان پنځه نسلونه د نیواکګرو له ظلم لاندې وو. په دغه اوږده موده کې پرته له هرات څخه په افغانستان کې بل یو ښار هم جوړ نه شو چې اقلاً پنځوس زره تنه وګړي ولري، وروسته له هغه څخه چې کومې نظامي او سیاسي پیښې وشوې، هغه زیاتره د افغانستان د ملت او د کوم بهرنی قوت ترمنځ نه وې بلکې په خپله د نیواکګرو او بهرنیو ځواکونو ترمنځ اخ و ډب و چې اغیزې یې هم بیرته په همدوی پورې تړلې وې. دغو کرغیړنو اوضاعو داسې پرمختګ وکړ چې د افغانستان د خلکو بیا رغونه نا ممکنه ښکاریده.

په دې ډول حالاتو کې د افغانستان د خلکو هڅې او د بیا ژوندي کیدو لپاره پاڅون د دغو خلکو د یوې قوي روحیې استازیتوب کوي چې زمونږ د ملت یوه ځانګړې تاریخي ننبه وه چې باید د قدر په سترګه

Scanned by CamScanner

ورته وکتل شي، ددغو نویو هڅو مخکښان د کرت د کورنۍ په لارښوونې سره د هرات د خیسار خلا وو، دوی دومره کلك هوډ درلود چې غر یې په غاښونو ماتولای شو. دوی و کولای شول چې د مغلو د ماورالنهر د چغتایي دولت) او د ایران د ایلخاني دولت د دوو میچنو ترمنځ ژوند ته دوام ورکړي او افغانستان روغ رمټ وساتي. څومره چې هغه مهال ممکنه وه، خلك ددغه ډول مرکزونو په شاوخوا را ټول شول او د هېواد په شمال لویدیځ کې یې د یو نیم سل کلونو لپاره د ملي فرهنګ ډیوه روښانه وساتله او آن دا چې دوی د سیستان، فراه او سبزوار او نورو سیمه ییزو واکمنو لپاره بېلګه شول، خو له بده مرغه د امیر تیمور ګورګان ټکه را پورته او دغه کوچنی مرکزونه یې په هرات، سیستان، فراه، نیشاپور او د هېواد په نورو سیمو کې له منځه یوړل.

د مغلو دوره د کتابتونونو، مدرسو، جوماتونو او علماوو او فضلاو د له منځه تګ لامل هم شو او د هېواد پخوانی فرهنګ زیانمن شو. د مغلو په دوره کې د ژوند شرایط او ټولنیزې پیښې ددې لامل شوې چې دنیایي هیلې او د مفکورې تولید له منځه لاړ شي. دوی ته همدا یوه مفکوره پاتې وه چې نړۍ تیریدونکې ده او په هغه څه قناعت کول په کار دي چې شته او په هغه څه رضا په کار ده چې په مخ راځي. د همدې ډول یوه چاپیریال تر اغیزو لاندې وروسته بیا د اسلامي عرفان او تصوف پراخه کړۍ را منځته شوه او په افغانستان کې د قلندرې او مفتخور ژوند او د دنیا د ترياکو او سپکاوي او له ژوند څخه د تیښتې په بڼه ژوند پر مخه ولاړ، همدارنګه شعر او ادب فقط د نصیحت او پند په چوکاټ کې پاتې شو یا به هم له ژوند څخه شکایت او دنیا ته په بده سترګه کتل پکې وو چې فقط عقبې ته توسل یې تومنه وه او بس، دا ځکه چې محروم او محتاج انسان که د خپل نجات لپاره لاره پیدا نه کړي او له مبارزې څخه هم عاجز پاتې شي، نو ناچاره کېږي چې منفي باف، توکلي او مایوس شي، د هغه مادي او معنوي استعداد له ودې څخه پاتې کېږي. له دې پرته مغلو اصلاً پرته له نجوم او ستورو پیژندنې او کیمیا څخه نورو علومو ته هیڅ پاملرنه نه کوله. د مغلي دولت په نزد د علم او فضل معیار په مغلي ژبه باندې پوهیدل او د ایغوري خط زده کول و او بس. نو په دې توګه په افغانستان کې د مغلي دولت د حاکمیت پر مهال د فرهنګ پرمختګ په عمومي توګه ډیر زیانمن شو او ادب وروسته پاتې شو یوازې تاریخ لږ څه ښه و. نثر له پیچلتیا ډك شو، غزل ډیر رواج شو او عرفاني نظم پرمختګ وکړ، خو قصیدې ډیره وروسته پاتې شوه، په ژبه کې مغلي لغاتونه را ننوتل لکه: یوروت یا اردو (چې د کېږدیو ښار ګوټو ته ویل کیدل). ایلچي، قوریاتای (د شورا لویه غونډه)، اوروغ (د یوه شهزاده د کورنۍ غړي او خپلوان)، او لوس (د یوه شهزاده اتباع)، چوك (د تعظیم لپاره ګونډه وهل)، قور چې (وسله وال)، چربي (د دروازې ساتونکی)، اختـه چې (میراخور)، کشیك چې (پیره دار)، نوین یا نویان (شهزاده)، الغ نویان (لوی شهزاده). تومان (لس زره)، قول د لښکر زړه، او غروق، پام (پړاو)، ایل (تابع)، یاغي (سرکښ)، ترغو (سوغات)، باسقاق (پولیس)، یرلیغ (فرمان)، تمغا (مهر)، تمغاچي (هغه څوك چې مهر ور سره وي)، حشر (اجباري لښکر). بایزه (دویاړ نښه)، یرغو چې (قاضي)، موچلکا (محبت)، یا سا (قانون) او نور د مغلو د دورې همدا فرهنګي خوږ و چې په افغانستان کې د یوې نیمې بلې پیړۍ لپاره کوم لوی شاعر او عالم را

Scanned by CamScanner

څرګند نه شو او هغه څه چې و هم هغه ټول د پخوانیو دورو پایله وه چې له مغلو مخکې را پاتې وو. لکه: شیخ عطار نیشاپوري، مولوي بلخي ثم رومي، سیف الدین سفرنګ مرغیني، د جویني د کورنۍ غړي، محمد نسوي، منهاج السراج جوزجاني، خواجه نصیر طوسي، ابو نصر فراعي، او حدي کرماني او نور، د مغلو په دوره کې یو اځې د ګوتو په شمیر کسان رامنځته شول چې ادب سره یې سرو کار درلود لکه ابن الفوطي مروانرو دی ثم بغدادي، پوربها جامي، قانعي طوسي. امامي هروي خواجوي کرماني، امیر حسین هروي، نزاري قهستاني، این یمین فریو مدي جویني، عماد فقیه کرماني، معین الدین جویني او نور. خو سره له دې هم د مغلو دوره کې د افغانستان د فرهنګ دوه څانګې نه یو اځې دا چې له منځه لاړې نه، بلکې پرمختګ یې هم وکړ، یو یې تاریخ چې وروسته بیا د تیموري دورې په ترڅ کې نور هم و غوړید او بل یې عرفاني نظم و، چې د متصوفه شاعرانو له خوا یې وده وکړه. په عمومي توګه د مغلو په دوره کې د افغانستان د خلکو نړۍ لید او د تفکر طرز پیښو (ښو او بدو حوادثو) او ماوراي طبیعت پورې وتړل شو او لا اوس هم چې شلمه پیړۍ ده دغه ډول تفکر د خلکو په ذهنونو واکمن دی.

Scanned by CamScanner

# دوهم

# د بیا ځلي ژوند لپارر د خلکو هلې ځلې

## د کرت ملوک (۱۲۴۵ – ۱۳۸۱)

د افغانستان د غوري دولت پر مهال او د سلطان غیاث الدین غوري د پاچاهي پر وخت دوه تنه بني اعمام عز الدین عمر او تاج الدین عثمان مرغیني، یویې د سلطان وزیر او بیا وروسته د هرات حکومت ته و ګومارل شو او بل یې د خیسار د کلا د کوتوال په توګه و ګومارل شو. (خیسار کلا د هرات له ښار څخه دوه منزله لرې د غور د ولایت په لاره پرته وه). د تاج الدین عثمان له مړینې وروسته د خیسار کوتوالي د غور د یوې علاقې له حکومت سره یو ځای د سلطان غیاث الدین محمود غوري له خوا د تاج الدین زوی ملك رکن الدین ته وسپارل شوه او همدارنګه سلطان محمود غوري رکن الدین ته خپله لور ورکړه همدارنګه رکن الدین د خپلې لور زوی یعنی د لور له خوا خپل لمسی شمس الدین محمد بن ابوبکر چې په (کرت) باندې مشهور و، د خپل نایب په توګه وټاکه. همدغه شمس الدین محمد بیا د کرت د سلسلې بنسټ ایښودونکی شو.

د غوریانو د دولت له نړیدلو څخه وروسته کله چې خوارزمي دولت ټینګ شو او بیا د چنګیز یرغلونه پیل شول، لا هم د خیسار د کلا او د غور د یو شمیر سیمو حکومت د ملك رکن الدین په لاس کې و. کله چې هغه ته د چنګیز بلنه ور ورسیده ډیر ژر یې د سولې لار غوره کړه او خپل لمسی شمس الدین محمد یې د چنګیز دربار ته واستاو. د نوموړي دغه کار د چنګیز د باور وړ وګرځید، نو په دې توګه د خیسار د کلا او د غور د حکومت منشور ده ته وسپارل شو. د چنګیز په دربار کې شمس الدین په ښه نظر او درنښت سره د منل شو، له دې څخه وروسته د کرت سیمه ییز حکومت په ډیر احتیاط او زغم سره له مغلو سره چلند کاو او خپل ځان او خپله سیمه یې له نړیدو او لوټ کولو څخه ساتله. په داسې حال کې چې دغې کوچنۍ سیمې په افغانستان کې د یوې ټاپو بڼه غوره کړې وه چې شاوخوا یې د مغلو سمندر را تاو وو او د هغې په شاوخوا پرته له کنډوالو نور څه نه و. ملك رکن الدین د خپل ۲۲ کلن حکومت په دوران کې اړ و چې د مغلو له قهارو او وینه څښونکو پاچایانو لکه چنګیز، اوتای خان او ګیوك خان سره له یوې خوا او د مغلو حکامو لکه جرماغون، جنتمور، نوسال ګرګوز، ایمر ارغون سره له بلې خوا او د مغلو له نظامي سردارانو سره چې په افغانستان کې یې لاسونه و لکه (طایر بهادر) او نورو سره هم عاقلانه او له احتیاط ډك چلند وکړي تر څو و کولای شي خپله نیمه روغه خاله د افغانستان په یوه څنډه کې د دښمن له چپاول څخه وساتي.

Scanned by CamScanner

## د شمس الدین بن ابي بکر کرت د امارت مهال (۱۲۴۵ – ۱۲۷۷)

لومړي ملك شمس الدین د خپل نیکه رکن الدین په پرتله ډېره موده واکمن و، هغه ۲۳ کاله په واك کې پاتې شو او له هلاکو خان او اباقان یعنی د ایران له مغلي پاچاهانو او له ګیوک خان او منګو آقا او قبلای خان یعنی مغلي امپراتورانو سره هم مهاله و. هغه په ۱۲۴۲ کې د مغلو د لښکرو د یرغل پر مهال په سند او ملتان کې په تخارستان کې د مغلو له نظامي قوماندان (منګو ته خان) سره یو ځای و. دغه لښکر د کندهار له لارې سند پورې لاړ او هلته له سند څخه تیر شو او هندوستان ته ور ننوت او د (اوچه) ښار یې کلا بند کړ. ملك شمس الدین په خپله مخامخ د ملتان او لاهور له واکمنو سره خبرې وکړې او هغوی یې د خراج ورکولو باندې اړ کړل. له بلې خوا د هندوستان د غوري دولت ساتونکی پوځ د بیاس تر غاړې پورې را ورسید او د مغلو لښکر بیرته افغانستان ته را ستون شو. د ملك دغه بې وینو توییدلو خدمت ددې لامل شو چې مغل د لاهور حکومت هغه ته ورکړي، خو یو شمیر متعصبو افسرانو ددې په وړاندې مخالفت وکړ او په ملك شمس الدین یې دا تور ولګاو چې هغه د هندوستان له مسلمانانو سره لاس یو کړی دی، له دې امله چې د دی ډول تور سزا ډېره درنه وه، نو ملك په افغانستان کې د مغلو د لښکر عمومي قوماندان طایر بهادر د ملاتړ د تر لاسه کولو په خاطر بادغیس ته ورغی، خو طایر بهادر په ۱۲۴۷ کې مړ شو او ځای یې منګو ته نوین ته ورکړل شو، د مغلو یو شمیر مشرانو له دغې موقع څخه ګټه پورته کړه ملك یې د سزا ورکولو په خاطر د چغتای لښکر ته وسپاره، دا مهال چغتای هم مړ شو او شمس الدین ژوندی پاتې شو. د شمس الدین کړه وړه او هوښیاري ددې لامل شوه چې د چغتای زوی ور سره آشنایي وچلوي، نو له دې امله چې هغه په خپله د مغلو دربار ته روان و نو ملك یې هم له ځان سره بوت، دا مهال منګو قا آن د مغلو شهنشاه ټاکل شوی و. منګو خان د ملك شخصیت خوښ کړ او د مغلو په وړاندې د هغه د نیکه له چلند څخه هم خبر شو. په دې توګه یې د هرات، بادغیس، غور، غرجستان، مرغاب، فاریاب، فراه، سیستان او کابلستان د حکومت منشور له جیحون څخه د سند تر غاو پورې ملك شمس الدین ته وسپاره او د افغانستان عمومي حاکم امیر ارغون ته یې امر وکړ چې ملك سره مرسته وکړي او هم ورته پنځه سوه زره نغدې سکې ورکړې. دغه مدبر ملك په دې وضعیت سره له قراقرم څخه بیرته افغانستان ته راستون شو او له ۱۲۵۰ کال څخه یې وروسته د کرت دولت جوړ کړ.

شمس الدین له امیر ارغون سره هم داسې چلند غوره کړ چې مغلي امیر د هغه له ملاتړ څخه مخ نه اړاو.

همدا چې ملك شمس الدین د ادارې مرکز ښه کلك کړ، نو بیا یې د شاوخوا ادارو په متمرکز کولو پیل وکړ، لومړی یې د غرجستان (له مرغاب څخه پورته یو ولایت و) له سیمه ییز حکمران ملك سیف الدین سره نښته وشوه، خو سیف الدین امیر ارغون اقا (د مرغاب پورته برخه کې د مغلو عمومي حکمران) ته پناه یوړه او په طوس ولایت کې ورسره پټ شو، خو شمس الدین هغه له امیر ارغون څخه تر لاسه او مړ یې کړ، بیا یې غرجستان له هرات سره وتاړه. له هغه وروسته د سیستان وار را ورسید. چې د ملك نصیر الدین په لاس په جلا ډول او په نیم خپلواك ډول اداره کید، شمس الدین وکولای شول چې نصیر الدین ته ماتې

ورکړي او سیستان یې د هرات د مرکز د اداري لاندې راوست او په دې توګه یې د خپل ور بوی ولایتونه چې څه د افغانستان نیمه لویدیزه برخه یې نیوله سره یو کړل.

په ۱۲۵۲ کې د منکوقا ان ورور هلاکو خان ماورالنهر ته ورسید او ملك شمس الدین سمرقند ته نژدې د هغه هر کلي ته ورغی، هلاکو د بلخ له لارې طوس ته ولاړ، په داسې حال کې چې د شمس الدین شخصیت یې خوښ شوی و، د اسمعیلي حکومت د پراخولو او د هغوی د ډیرو لرې کلاوو نیولو لپاره یې شمس الدین مخکې کړ. ملك له طوس څخه قهستان ته ولاړ او د ناصر الدین محتشم اسمعیلي والي سره یې خبرې اترې وکړې، ددغو خبرو په پایله کې ناصر الدین هلاکو ته ورغی او هغه ته یې اطاعت وکړ، په دې توګه د قهستان کلاوې په آسانه د هلاکو په لاس ورغلې چې وروسته بیا خواجه نصیر الدین طوسي (د اخلاق ناصري) د همدغه ناصر الدین محتشم په نوم ولیك او بیا د هلاکو له دربار سره یو ځای شو لکه هماغسې چې عطا ملك جویني د امیر ارغون په لاس لا پخوا د هلاکو دربار سره یو ځای شوی و. د ایران له مغلي دولت سره د ملك شمس الدین ښې اړیکې تر ۱۲۲۸ پورې وې، په دغه ټوله موده کې د کرت حکومت لا زیات متمرکز شو او د هرات او د هغه شاو خوا رنځیدلي خلك یو ځل بیا سره را ټول شول، کرنې، صنعت او آبادي ورو ورو پرمختګ وکړ، وروسته له هغه چې په ۱۲۲۴ کې هلاکو مړ شو او د هغه پر ځای باقان کینوست، یو ځل د ایران د مغلي حکومت او د کرت د حکومت ترمنځ اړیکې ښې شوې، خو په ۱۲۲۸ کې د ماورالنهر چغتایي پاچا براق خان له جیحون څخه را پورې وت او د افغانستان شمالي ولایتونه یې له بدخشان څخه نیولې تر بلخ، مرو او نیشاپور پورې ونیول. ملك شمس الدین د براق په وړاندې د دښمنۍ له لارې پرمخ نه ولاړ، بلکې په ښکاره یې د روغې او زغم لاره ونیوله. همدا چې اباقا آن ددفاع په لټه کې شو، ملك الدین دواړه دښمنان په خپل حل پریښودل او خپله د ناپیلي په توګه د خیسار په کلا کې پاتې شو. د براق او اباخان جګړه له هرات څخه پینځه فرسنګه لرې پېښه شوه، براق ماتې وخوړه او بیرته ماورالنهر ته ستون شو اباقا آن د شمس الدین له دغه دریځ څخه بدلون و موند او د هرات د نیم ژوندي ښار د نړولو په لټه کې شو، خو خواجه شمس الدین جویني هغه پرې نه ښود او په تمه شو چې شمس الدین د قا ان اردو ته راشي، خو شمس الدین د جویني بلنه د ورتګ لپاره و نه منله او له خیسار څخه را کوز نه شو، آپا قا آن یو لښکر د هرات د ښار د ساتنې لپاره واستاو او شهزاده یشموت یې د افغانستان د عمومي حکمران په توګه وټاکه او په خپله ایران ته ستون شو. له دې څخه وروسته د اباقا آن اړیکې له ملك شمس الدین سره ترینګلې شوې تر څو چې په ۱۲۷۵ کې د پخوانیو ولایتونو د حکومت فرمان د اباقا آن له خوا د شمس الدین په نوم را ورسید، نو هغه مهال د هغه باور راغی او له خیسار کلا څخه د هرات ښار ته ورغی. څه موده وروسته د دولت لویانو هغه وهڅاو چې د ایران دربار ته ورشي او شمس الدین له خپل زوی او ورور سره یو ځای تبریز ته ولاړل. اباقا ان د هغه ورور او زوی شیروان کې بندي کړل او په خپله ملك یې تبریز کې وساته او بیا یې هلته په ۱۲۷۷ کې مسموم کړ، له دې امله چې د هرات وضعیت ډیر ګډوډ شو، نو اباقا آن د ملك شمس الدین زوی دوم ملك رکن الدین چې په شمس الدین کهین سره مشهور و په ۱۳۷۸ کې د هغه د پلار پر ځای مقرر او هرات ته یې واستاو.

Scanned by CamScanner

## د ملک شمس الدین کهین د امارت مهال (۱۲۷۸ – ۱۳۰۵)

شمس الدین کهین یو مدبر سړی و. هغه د هرات په آبادي کې هڅې وکړې او هم یې د غور یوه برخه چې تر هغه مهال پورې له هرات څخه جلا پاتې وه بېرته هرات سره وتړله. په ۱۲۸۱ کې یې کندهار ته لښکر ولېږ او هغه ښار یې ونیو. په دې توګه نوموړي د کرت د حکومت ور بوی له شمال څخه تر جنوب پورې پراخ کړ. د شمس الدین کهین د واکمنۍ دوره اوږده وه. هغه په دې دوره کې د ایران د مغلو د پاچاهانو له اوو تنو سره هم مهاله و. لکه ابا قان، تکودار، ارغون خان، کیخاتو، بایدو خان، غازان خان او اولجایتون خان. هغه د ایران له مغلي پاچاهانو او د افغانستان له عمومي حاکمانو (لکه شهزاده ارغون، شهزاده غازان، انبارچي، امیر نوروز او شهزاده ابو سعید) سره په تدبیر او زغم او په عین حال کې په درونډ والي چلند وکړ. هغه د احتیاط له مخې زیاتره په قیسار کلا کې چې کلکه او ډاډمنه وه ژوند کاو، په تیره بیا کله یې چې یو مغل امیر وژلی و او د نورو مغلو غوسه یې پارولې وه.

## د ملک فخر الدین د امارت پر مهال

فخر الدین د ملک شمس الدین کهین زوی و چې د خپل پلار د ژوند پر مهال یې خپلواك ژوند درلود. دده دغه ډول ژند ددې لامل شو چې پلار یې هغه له ۱۲۸۲ څخه تر ۱۲۹۳ کال پورې د خیسار په کلا کې بندي کړی و. فخر الدین وروسته تر اوو کلونو بند څخه خان وژغوره او خان یې په یوه کلکه کلا کې ایسار کړ او سر یې پلار ته ټیټ نه کړ. امیر نوروز د مغلو نظامي سالار د افغانستان په طوسي ښار کې شفاعت وکړ او فخر الدین یې له پلار څخه خان ته ور وغوښت. امیر نوروز چې د فخر الدین فضیلت او پوهه ولیده له هغه ته یې درناوی وکړ او خپله وریره یې ورته نکاح کړه او هم یې د ایران مغلي پاچا غازان خان د فخر الدین خواته لیوال کړ، تر څو چې غازان په ۱۲۹۵ کې د هغه د پلار شمس الدین د نه پاملرنې سره سره د هرات په حکومت وټاکه او هغه د پلار تر مړینې پورې په همدې دریځ کې پاتې شو هغه دا مهال د حکومت او اداري په چارو کې له خان څخه وړتیا وښوده.

کله چې فخر الدین د هرات حاکم و، داسې یوه کارته اړ وت چې هغه د بیوفایي په پیغور بدل شو. کیسه داوه چې په افغانستان کې یوه ډېر ښه مغلي امیر یعني امیر نوروز په ایران کې د یوه ډېر مدبر پاچا په وړاندې پاڅون وکړ، خو بریالی نه شو. هغه د غازان له عسکرو څخه ملك فخر الدین ته هارت ته را وتښتید چې هم یې پخوانی دوست او هم یې زوم و. دا مهال د مغلو اویا زره عسکرو هرات کلابند کړ. ددغه لښکر سردار امیر قتلغ و. فخر الدین په دوو لارو کې اریان و، یا یې باید د ایران له مغلي دولت او اویا زریز لښکر سره جګړه کړې وای، یا یې باید امیر نوروز دښمن ته په لاس ورکړی وای، فخر الدین دوهمه لاره غوره کړه، په دې توګه امیر نوروز د دښمن د قوماندان په لاس کې ورکړل شو او په هماغه کال یعنې په ۱۲۲۹ کې د قتلغ په لاس ووژل شو او قتلغشاه د غازان خان له خوا د طوس په ولایت کې د افغانستان د شمال لویدیځ سیمو د مغلي لښکرو د قوماندان په توګه پاتې شو.

له دې وروسته فخر الدین د خپل نظامي دریځ په کلکولو کې هڅې وکړې او تر دریو کلونو پورې د پوخ

Scanned by CamScanner

په جوړولو لګیا و، بیا یې د ملغو نظامي قوماندان ته د باج له ورکولو څخه لاس ونیو او هم یې په سیستان کې د مغلو هغه تکو دری قبایل چې د ایران د مغلي حکامو د ظلم په ضد پاڅیدلي وو تر ملاتړ لاندې راوستل، کله کله به نوموړی د طوس د ولایت لړ لړ خاوره هم نیوله. غازان خان د فخر الدین د ټکولو لپاره په ۱۲۹۹ کې خپل ورور الجایتون خان د مازندران او طوس له لښکر سره د هرات په لوري ولیږ. کله چې اولجایتون خان نیشاپور ته ورسید، د خپل استازي په لاس یې له ملك فخر الدین څخه وغوښتل چې د غازان اطاعت وکړي او د تکو دریانو له ملاتړ څخه لاس واخلي، که نه پر هرات به یرغل وشي. فخر الدین په لومه کې و نه نښت، هغه یواځې په کال کې د غازان دربار ته د زرو دینارو ورکول ومنل. اولجایتون چې د هرات له کلکوالی او د کرت د ملك له نظامي قوت څخه خبر و، نو د هغه دغه وړاندیز یې د سولې لپاره بهانه کړ او سمدستي له جګړې څخه تیر شو، خو د راتلونکی لپاره یې د کرت د دولت نړول په پام کې ونیول. د اولجایتون دغه هوډ هغه مهال تر سره شو چې هغه په ۱۳۰۳ کې د غزان له مړینې وروسته د ایران پاچا شو او ملك فخر الدین د هغه په د تخت د کیناستو په ورځ نه و ورغلی او مبارکي یې هم ور نه کړه. د اولجایتون له پاچا کیدو څخه دوه کاله وروسته فخر الدین د خپل پلار له مړینې وروسته به رسمي توګه د کرت د حکومت د قلمرو امیر وټاکل شو دا ۱۳۰۵ کال و.

الجایتو لس زره سپاره لښکر د (امیر دانشمند بهادر) په مشرۍ هرات ته د کرت د امیر د پرخولو لپاره وکیښ. دانشمند بهادر لا په نیشاپور کې و چې د هرات د ښار قاضي مولانا وجیه الدین نسفي د دانشمند اردو ته تسلیم شو، دانشمند له خپل لښکر سره هرات ته ننوت، خو فخر الدین د تسلیم کیدو هوډ نه درلود، نو لښکر ښار ته نژدې شو. د حبیب السیر د تاریخ په وینا دا مهال قاضي وجیه الدین دانشمند بهادر ته عرض وکړ چې هرات به هله ډیر آسانه ونیسي چې ټولې شاو خوا لارې بندې کړي او هیڅوك ښار ته غله دننه نه کړي، نو دانشمند بهادر د قاضي په مشوره هره خوا سپاره لښکر و ګومارل او لارې یې بندې کړې. له دې امله چې په ښار کې د تیر کال غله نه وه پاتې او د نوي کال غله نه وه رسیدلی، نو لویه کاتي پیښه شوه. وروسته تر لس- دولس ورځو جګړې څخه شیخ قطب الدین چشتي د سولې غوښتونکی شو، یعنی له ملك فخر الدین څخه یې وغوښتل چې هرات پرېږدي او په اشکلچه غره کې امان کلا ته ولاړ شي او تر امان کلا پورې به د دانشمند بهادر زوی (لاغري) ور سره برمته وي او بل زوی (طغان) به ښار ته دننه شي، البته په دغې سولې او سلا- مشورې سره هم قاضي او هم شیخ خپلې راتلونکی ګټې داډمنې کړي ملك فخر الدین مخکې له دې چې له هرات ښار څخه ووځي، د اختیار الدین کلا (د هرات ارګ) یې د غور یوه زړور باتور (جمال الدین محمد سام) ته وسپارله او ورته ویې ویل چې هغه له دښمن څخه وساتي او هم یې خپله خانګړې توره هغه ته ورکړه او ورته ویې ویل هر چا که د کلا دننه او په ښار کې دده له خبرې څخه سرغړونه وکړه، نو سر دې ور پرې شي. محمد سام دا ومنل او ژمنه یې وکړه او بیا یې د خان په خارولو سره دغه ژمنه تر سره هم کړه. فخر الدین زر توري، غښتلي او لیندۍ د کلا ساتونکو باندې وویشل او په خپله له ۲۵۰ سپرو او د مغلو برمته سره د امان غره ته ولاړ او په کلا ننوت. وروسته یې امیر لاغری د هغه پلار ته ور ولیږه او دانشمند بهادر ته یې دا پیغام واستاو

چې زه په خپله ژمنه ولاړیم، ته هم باید له ژمنې تیر نه شې.
دانشمند بهادر د مغلو له لښکر سره هرات ته ننوت، د ښار دروازې یې خپلو نظامیانو ته وسپارلې او د ښار د ورانولو امر یې وکړ. بیا یې سام ته حال ور واستاو چې کلا باید دوی ته تسلیم کړي، خو سام ځواب ورکړ، نو د مغلو امیر د جګړې او د کلا د نیولو په لټه کې شو، دا ځل هم قاضي نسفي او شیخ الاسلام را مخته شول او سلا یې وکړه چې شیخ چشتي به له (طوطك بلا) سره ملك فخر الدین- ورشي او له امان کوه څخه به یوه رقعه محمد سام ته راوړي چې هغه کلا پرانیزي، دانشمند صرف د کتلو لپاره ورننوځي بیرته وځي او سلطان او لجایتو ته لیکي چې ملك فخر الدین ته کلا او ښار دواړه د مغلو دولت ته سپارلي، نو بیا به د هېواد منشور بیرته د ملك فخر الدین په نوم ولیکل شي. د شیخ الاسلام مشوره عملي شوه، خو فخر الدین وویل چې زه پوهیږم چې دغه ناځوانه مغل په خپله ژمنه نه دریږي، خو شیخ ډیره زیاته مبالغه وکړه او په دې خبره کلك و درید، نو ملك اړ شو چې لاندنې رقعه محمد سام ته ولیکي:

(پلار مې امیر دانشمند به د کلا د کتلو لپاره راشي باید د هغه د خوښې لپاره هڅه وکړي) شیخ چشتي په بېړه دغه رقعه سام ته ورسوله. سام وویل: د خپل مشر په وینا به عمل وکړم، وروسته دا هم ویل کیدل چې ملك په پټه سام ته دا هم لیکلي و چې کلا وساتي.

میر دانشمند بهادر لومړی خپل زوی لاغری له شلو تنو سره کلا ته واستاو چې هغوی ته د محمد سام له خوا هر کلي وویل شو او د ملك فخر الدین په دربار کې ورته ځای ورکړل شو، بیا یې اتیا تنه مغل نور په څو ډلو کې ور ولیږل او په پای کې خپله له ۱۸۰ تنو سره چې تر جامو لاندې د جګړې په اسباب سمبال وو، کلا ته ننوت، محمد سام راغی او د هغه مهال له دود سره سم یې سر په ځمکه کېښود، امیر دانشمند په ډېر غرور وویل:

ای فضوله تاجیکه: تا څنګه زما له امر څخه سرغړاوی کړی او له څو تنو کلیوالو سره چې څوك یې نه پیژني په دې کلا کې دیره شوی یې. غواړې چې اوس دې سر پرې کړم او دغه کلا د لارې له پوټې سره یو شان کړم. محمد سام ځواب ورکړ (خدمتګاری هغه چا لره بویه چې د مخدوم له امر څخه سرغړونه ونه کړي او په ژمنه و دریږي، د ځنډیدلو لامل دا و چې ملك ماته قسم راکړی و چې پرته له اجازې څخه بهر و نه وځم او د هیڅ چا خدمت ته ور نشم) امیر دانشمند محمد سام وړاندې ور وغوښت او د هغه ستاینه یې وکړه او په آس سپور د کلا تر منځ پورې ولاړ، هلته کوز شو او په زینه پورته شو تر څو د ملك فخر الدین دربار و ګوري. تاج الدین سرهنګ غوري لاس ور واچاو او د دانشمند بهادر ګریوان یې ور څیرې او پر سر یې ګوزار ورکړ. ابوبکر سدید له پاسه را ودانګل او د دانشمند سر یې په توره جلا کړ او د کلا په غولي ور غړید، د دانشمند اتباع ټول و تښتیدل خو ټولې دروازې لا مخکې تړل شوې وې. د غوریانو تورې و بریښیدې او د دانشمند ټول خلك ووژل شول. دا مهال سام له خپلو جنګیالیو سره له کلا څخه ووت او له ښار څخه غږ زوږ پورته شو او ټولو پر مغلو یرغل وکړ او له غرمې څخه تر ماسپښین پورې د دښمن د لښکر یو شمیر وګړی ووژل شول او نور په تیښته و تښتیدل. کله چې دا خبر ملك فخر الدین ته

Scanned by CamScanner

ورسید سام ته یې یو لیک واستاو چې اوس چې دا پېښه وشوه، نو باید د ښار او کلا په ساتنه کې هڅه وکړي او په ښار کې د امنیت د ساتلو لپاره خنډ و نه شي، همدارنګه سل تنه وسله وال یې هم د سام مرستې ته ولیږل. سام ډېر ژر د کلا په بیرته رغولو او د ښار په بیرته ابادولو لګیا شو. اولجایتو د امیر دانشمند زوی (بوجای) وګوماره چې په هرات لښکر ورولي او کسات واخلي. بوجای چې طوس ته ورسید له خپل تښتیدلي ورور (طغان) سره یو ځای شو او ملك فخر الدین ته یې یو لیک واستاو چې که چیرې زمونږ پلار او لښکریان ستا په امر وژل شوي وي وایه او که نه د هرات خلکو ته لیك ولیږه چې قاتلان مونږ ته تسلیم کړي. ملك ولیکل چې ما د هغوی د وژلو په هکله فرمان نه دی لیږلی او دا هم نشم کولای چې د هرات خلکو ته ولیکم چې محمد سام چې دوه زره جنګیالي لري تاسې ته تسلیم کړي. بوجای له دیرش زره لښکر سره هرات ته ننوت او د (خاکستر برج) په وړاندې یې لښکر کوټ جوړ کړ. جګړې درې ورځې دوام وکړ. د هرات ۱۷۰۰ سرتیرو د دښمن لښکر سره جګړه کوله، په څلورمه ورځ بوجای د ښار له څنګ څخه د مالان پله خواته په ښار د ښار د تګ راتګ لاره یې له هره لورې وتړله، همدا مهال ملك فخر الدین له ناروغۍ څخه سترګې پټې کړې (۱۳۰۲) دغې پېښې دښمن نور هم زړور کړ، نو دا مهال د مالان له پله څخه بیرته مخ په ښار ورغی او کلا بندي او جګړه یې اوږده کړه چې له دې امله د ښار دننه ډېر خلك له لوږې مړه شول. ملك قطب الدین توکلي د دښمن په لښکر کې د سولې هڅې پیل کړې، سام د ژمنې سره سم ښار پرېښود او کلا ته ننوت. د دښمن لښکر ښار ونیو او ټول دیوالونه یې ونړول. سام او نور هراتي او غوري مشران به هره ورځ تر دیارلسو ورځو پورې لس لس تنه بوجای ته ورتلل او بیرته به کلا ته را ستنیدل، په دې مهال کې امیر بساول چې د امیر اولجایتو له خوا د افغانستان حکمران ټاکل شوی و، هرات ته را ورسید او سام ته یې خبر ولیږه چې هغه ته ورشي او د بوجای له شر څخه خان وژغوري. د سام باور وشو، نو له ټول لښکر سره هغه ته ورغی. امیر بساول چې یو وینه څښونکی او ظالم سړی و، ټول یې وتړل او بوجای ته یې ور ولیږل او امر یې وکړ چې ټول ووژني. له هغه وروسته بساول په هرات کې پاتې شو، ترڅو چې ملك غیاث الدین غوري د حکومت واك تر لاسه کړ.

## د لومړي غیاث الدین امارت (۱۳۰۷– ۱۳۲۸)

ملك غیاث الدین بن فخر الدین پر هرات د دانشمند د لښکر د یرغل پر مهال، د هغې مرورتیا له امله چې خپلو ورونو او کورنۍ څخه یې لرله، لومړی دانشمند او بیا د اولجایتون دربار ته ورغی. اولجایتون هغه یو کال خان سره وساته او د هغه د پلار له مړینې وروسته یې د هرات په حکومت وګوماره. غیاث الدین په هرات اسفزار او غور کې خپل حکومت کلك کړ، خو لږ وروسته په هغه د سرغړونې تور ولګول شو او د ایران پلازمېنه سلطانیه ته وغوښتل شو او تر ۱۳۱۵ کال پورې هلته وساتل شو. غیاث الدین چې کله بیرته اجازه تر لاسه او هرات ته راغی، نو تر ۱۳۲۰ پورې یې نکو دري مخالفین وټکول او د نیشاپور او سیستان څو څو کلاوې یې ونیولې. په همدې کال کې هغه حج ته ولاړ (په هرات کې د هغه ملك شمس الدین محمد د هغه زوی دده نایب پاتې شو). کله چې له حج څخه بیرته

راستون شو نو په هرات کې په اداري کارونو بوخت شو. په داسې حال کې چې په ایران کې سلطان ابو سعید بهادر خان د الجایتو له مړینې وروسته په ۱۳۱۲ کې د هغه خای نیولی و، نو له غیاث الدین کرت سره یې په سره سینه چلند کاوه.

پر تخت باندې د ابو سعید تر کیناستو د مخه د هغه د پلار پر مهال، د ماورالنهر یوه چغتایي شهزاده ته چې (یسور) نومید له جیحون څخه د را پورې وتو اجازه ورکړل شوې وه، دغه سړي ډېرې غتې غتې خبرې کولې، کله یې چې په هرات او د هغه په شاو خوا کې د ایران د مغلي حاکم امیر یساول ظلمونه او په زرو سره د مال ټولول او د خلکو خوړول او له هغه څخه د خلکو کرکه ولیده، نو په دې لټه کې شو چې له دې موقع ګټه اوچته کړي، په تېره بیا کله چې ابو سعید په تخت باندې ترکیناستو وروسته هم امیر یساول ته بیا د شمال لویدیځ افغانستان د امارت دنده ور وسپارله نو یسور چغتایي د خلکو په مرسته په بادغیس کې پاڅون وکړ او په هماغه کال یعنی ۱۳۱۲ یې یساول ته ماتې ورکړه او ویې ځغلاو او په خپله په طوس باندې واکمن شو. له دې وروسته یې ورو ورو هڅې وکړې چې هرات او سیستان هم ونیسي، خو ملك غیاث الدین کرت را پاڅید او هغه یې په ۱۳۱۷ کې بیرته د طوس خواته په شا وځغلاو. دا مهال یسور د کرت او ابوسعید د دوو څواکونو ترمنځ ګیر او په تیښت بریالی شو، خو په پای کې ووژل شو.

په دې ترڅ کې امیر چوپان د ایلخاني دربار یو ډیر څواکمن امیر چې په طوس کې د افغانستان دلوی قومندان په توګه مقرر و، د ابو سعید په وړاندې پاڅید. ددې پاڅون لپاره دوه بهانې موجودې وې: سلطان ابوسعید د امیر چوپان په میړه بنی لور دلشاد خاتون باندې مین شوی و او غوښتل یې چې د هغې طلاق دهغې له میړه امیر شیخ حسن ایلکاني څخه واخلي او خان ته یې واده کړي، خو امیر چوپان پرې نه ښود. بل لامل دا و چې د امیر چوپان زوی دمشق خواجه د ابوسعید د حرم پر یوې اوسیدونکې زړه بایلود او له هغې سره یې اړیکې کلکې کړې. په دې توګه ابو سعید دمشق خواجه وواژه او د امیر چوپان او د هغه د زامنو د وژلو او لوټ کولو فرمان یې صادر او په طوس او ګرجستان او کوچنۍ آسیا کې یې په هغوی یرغل پیل کړ. امیر چوپان له خپل لښکر سره د عراق په لوري روان شو خو د لښکر افسران بیرته ور څخه را ستانه شول او له ابوسعید سره یو خای شول، امیر چوپان اړ شو چې د طوس له لارې مرغاب ته او بیا له هغه ځایه هرات ته پناه یوسي، ابو سعید د هغه د وژلو فرمان ملك غیاث الدین کرت ته واستاوه. ملك هغه پناه اخیستونکی امیر وواژه او لکه د خپل پلار په شان یې د ناخواني یادګار پاتې شو. ملك غیاث الدین یو ځل بیا په ۱۳۲۷ کې د ابوسعید دربار ته ولاړ کله چې په ۱۳۲۸ کې بیرته را وګرځید دلته ومړ.

د لومړي غیاث الدین زوی درېیم شمس الدین په ۱۳۲۸ کې وروسته د پلار تر مړینې امیر شو. دغه سړي به تل څښل او یوه ورځ هم هوښیار نه و. په ۱۳۲۹ کې مړ شو. د هغه پر مهال د شمال لویدیځ افغانستان حاکم (تاربي طغای) غوښتې و چې هرات و نیسي، خو نه و توانیدلی. همدارنګه هغه د سلطان ابو سعید په ضد پاڅون وکړ خو ناکام شو. په پای کې د ابوسعید دربار ته ورغی او په ۱۳۲۸

Scanned by CamScanner

کې همالته ووژل شو. په ۱۳۲۹ کې د هغه پر ځای امیر شیخ علي کینوست چې هغه هم د امیر سیدل مړینې یو کال وروسته په ۱۳۳۲ کې د امیر ارغونشاه بن امیر نوروز په لاس وووژل شو. له دریم شمس الدین ځخه وروسته د هغه ورور ملك حافظ پاچا شو، خو هغه و نشو کولای چې د مرکزي اداري د ضعف مخه ونیسي او د زورورو فیوډالانو او غوري سیالانو لار بنده کړي، بلکې هغوی و کولای شول چې په ۱۳۳۱ کې په خپله ملك حافظ په «ممر حصار» کې ووژني.

## د معزالدین حسین د امارت پر مهال

د ملك حافظ پر ځای د هغه ورور ملك معز الدین یو مدبر شخص و چې ویې کولای یې شول د کرت د مرکزي حکومت د رنګیدو مخه و نیسي، په تیره بیا کله چې سلطان ابوسعید په ۱۳۳۵ کال کې مړ شو، د ایران مغلي مرکزي دولت له ضعف سره مخامخ شو. دې مهال کې داسې فرصت برابر شو چې ملك معز الدین کرت بشپړه خپلواکي ترلاسه کړه. له هغه ځخه وروسته نه یوازې دا چې طغاتیمور د خراسان حاکم د کرت د حکومت په چارو کې لاسوهنه نشو کولای، بلکې د کرت له حکومت سره یې د دوستانه اړیکو په پالنه کې هڅه کوله، آن دا چې سلطان خاتون خپله لور یې د کرت ملك ته ور واده کړه.

طغاتیمور خان د چنګزي کورنۍ غړی و، چې د خراسان د حاکم د امیر شیخ علي له وژل کیدو وروسته په ۱۳۳۲ کې په افغانستان کې په شمال لویدیزو ولایتونو کې تقریباً د یوه خپلواك پاچا په توګه اعلان شو. هغه په ۱۳۳۸ کې د عراق د نیولو په نیت روان شو، خو ځه یې ونشو کولای بیرته را وګرځید. په پای کې هغه په ګرګان کې په ۱۳۵۱ کال کې د یوې غونډې په ترځ کې له «یخي امیر سربداري سبزوار» سره د خبرو اترو پر مهال ووژل شو.

له هغه ځخه وروسته د طغاتیمور د ځای ناستو د واکمنې ساحه د امیر تیمور ګورګان تر راتګ پورې په ګرګان سیمې پورې (چې د دوی پلازمېنه وه) ایساره پاتې شوه. لکه چې پوهېږو د چنګیز له مهال ځخه بیا د امیر تیمور ګورګان تر مهال پورې، د افغانستان اداره د خراسان د امارت په نوم د هغو امیرانو په لاس کې وه چې د خراسان د امیر او حاکم په نومونو به د افغانستان په شمال لویدیځ کې او زیاتره بیا به طوس کې کیناستل. دغه امارت خپل ځانګړې وزارت او دیوان درلود چې د خراسان وزیر او د خراسان صاحب دیوان په نومونو یادید. د خراسان امیران ځه هم د چنګیز خان پر مهال او ځه هم په مغلستان کې د هغو د اولادونو یعنی خاقانانو په دوران کې او ځه هم د ایران د ایلخانیانو د دولت پر مهال زیاتره د مغلو تر ټولو لوی لوی مغلي شهزاده ګان وو. دغو امیرانو د افغانستان د ولایتونو او ځینې وخت د ایران د شمالي ولایتونو د اداره کولو ترڅنګ د افغانستان سیمه ییز حکومتونه لکه د بدخشان ملوك، د غوراه او سیستان ملوك د هرات کرت او نورو اداره هم کوله او دغه سیمه ییز حکومتونه یې د ماوراالنهر د چغتایي دولت له یرغل ځخه ساتل.

خو د ایران د مغلي دولت له نړیدلو او پرځیدلو ځخه وروسته او کله چې ابو سعید مړ شو دغه لړۍ وشلیده، په افغانستان کې په هره سیمه کې سیمه ییز امیران را پورته شول او د خپلو خپلو سیمو

خپلواکي يې تر لاسه کړه چې د هرات له کرت څخه وروسته نامتو اميران د سبزوار سربداري وو. د ابو سعيد له مړينې څخه يو کال وروسته د سبزوار خلك د مغلو د واك په وړاندې پاڅېدل او د عبدالرزاق تر مشرۍ لاندې يې د سبزوار سيمه بيز حکومت جوړ کړ. عبدالرزاق په ۱۳۳۷ کې رووسته د خراسان د وزير علاالدين محمود له وژلو څخه په سبزوار کې په خپلواك ډول ديره شو. خو د هغه ورور مسعود يوې نجلۍ ته د قصد له امله هغه مړ کړ، او په خپله بيا تر ۱۳۴۴ کال پورې د سبزوار امير پاتې شو. مسعود په نيشاپور کې د طغاتيمور حاکم (ارغونشاه) مړ کړ او نيشاپور يې ونيو. طغاتيمور خپل ورور امير علي د کسات د اخيستو لپاره له جرجان څخه ور واستاو، خو هغه هم په ۱۳۴۰ کې د سربداريه په لاس ووژل شو. دې پسې وروسته سربدارانو په خپله طغاتيمور د اترك په غاړو کې ماتې سره مخامخ او د خراسان اوسنۍ ولايت يې د مغلو له لاسه خپلواك کړ. امير مسعود په ۱۳۴۲ کال کې د کرت د حکومت د نړولو په نيت هرات ته روان شو. دا خکه چې په سربداريه حکومت کې مخورو روحانيونو د کرت او سربداريانو ترمنځ د مذهبي اختلاف اور اچولی و او په خپله د کرت د دربار فقه علماوو د غه اختلاف پسې نور هم ژبه ورکړې و. هغه جګړه چې د دواړو خواوو ترمنځ د خاف او زاوه د سيمو ترمنځ وشوه د امير مسعود سربداري مرشد شيخ حسن جوري پکې ووژل شو او په خپله مسعود ماتې وخوړه او را وتښتيد چې د کرت سپاهيانو د هغه پل پسې واخيست. وروسته وروسته بيا امير مسعود د ايران پر مازندران يرغل وکړ او په ۱۳۴۴ کې د مازندران له سيمه بيز امير جلال الدوله سره په جګړه کې مات او ووژل شو. وروسته تر مسعود څخه د سربدارۍ لړۍ واکمن مخ په خوړ شوه چې ورپسې نور لاربنوونکي او اميران يې دا وو: اقا محمد امي تيمور (۱۳۴۴ کې پرتخت کيناست)، کلو اسفنديار (۱۳۴۲)، فضل الله (۱۳۴۸)، علي چشمي (۱۳۴۸) چې همده (طغايتمور سره روغه وکړه او يو څه سيمې يې ور پرېښودې)، يحيى کرابي ۱۳۵۱ (غه طوس د مغلو له عمالو څخه ونيوې او په ۱۳۵۲ کې د طغاتيمور لښکرو ته د سولې لپاره ورغی خو په جوجان کې يې د خبرو په ترڅ کې مړ کړ)، ظهيرالدين کرابي (۱۳۵۷) حيدر قصاب (۱۳۵۸)، لطف الله (۱۳۵۹)، حسين دامغاني (۱۳۷۰) (د همده پر مهال دامغان او استرآباد له سربداري قلمرو څخه جلا شو)، علي مويد (علي مويد له ۱۳۷۴ څخه تر ۱۳۸۵ پورې په واك کې و چې يو فضيلت پروره شخص و او قاين، طبس، ترشيز، قهستان او سبزوار دده د حکومت په قلمرو کې وي. هغه د جرجان د واکمن امنګولو خان وژغوره او امير تيمور ګورګان ته يې اطاعت وکړ او په ۱۳۸۰ کې تر سرخس پورې ولاړ او هغه سره يې خدمت تر سره کړ، په پای کې په ۱۳۸۵ کې د ايران له لرستان سره د امير تيمور په يوه جګړه کې ووژل شو.

البته د هرات د کرت حکومت د مغلو پر مهال د افغانستان د نورو سيمه بيزو واکمنو په پرتله يو تر ټولو مخکښ، پياوړی او منظم حکومت و، نوځکه يې د نورو په پرتله زيات ټولنيز تبارز درلود. د کرت د ملوك په ډله کې د معزالدين کرت عمر تر ټولو نورو اوږدو يعنې هغه د ۳۸ کالو په ترڅ کې د کرت مرکزي حکومت ته ښه پياوړتيا ورکړه، آن دا چې هغو خلکو به چې د ايران له فيودالي جګړو د چارو له ګډوډيو او کړکيچ څخه تيښته کوله، نو د کرت دربارته به راتلل. معزالدين د خپلو سيمو په ډيرو برخو

کې له هغې جملې څخه د جام په ولایت کې په باخزر کې خیریه کارونه او کاریزونه کیندل تر سره کړل او په هرات ښار کې یې د سلطان خانقاه، د سبز خانقا (خیابان هرات) او د نامتو جامع جومات تر څنګ بیا خانقاه او د سبز مدرسه (فیروز آباد) یې جوړه کړه. همدارنګه هغه له کورنیو او بهرنیو جګړو سره مقابله وکړه او په تدبیر او زور کې بریالی را ووت. د معز الدین لومړنی جګړه له امیر مسعود سربداري سبزوار سره وه چې معز الدین بریالی شو. د هغه دوهمه دفاعي جګړه د ماوراالنهر د چغتایي امیرانو له یوه لوی امیر قزغن سره وه چې هغه ته د ماوراالنهر په چغتایي دولت کې د (تاج بخش) نوم ورکړل شوی و. دا خکه چې هغه یو چغتایي پاچا له منځه وړی و او بل یې پر خای کینولی و، خو د دولت ټولې چارې د همده په لاس کې وې دغه سړی په ۱۳۵۰ کال کې له دیرش زره لښکر سره له جیحون څخه تیر شو او پر افغانستان یې یرغل وکړ. ددغه یرغل لمسوونکي د افغانستان د شمال لویدیځ یو شمیر روحانیون وو چې د هرات د کرت دولت له مرکزي قدرت سره مخالف وو او د خپلو په منځ کې او په خپله په حکومت د خپل خان لپاره د یو ځای او واک د ترلاسه کولو په لټه کې وو. په دوی کې یو یې شیخ خواجه رضي الدین احمد بن شیخ شهاب الدین اسمعیل جامي و چې د کرت له شاهي کورنۍ سره یې خپلوي درلوده هغه تر ماوراالنهر پورې سفر وکړ او ځان یې امیر قزغن ته ورساو. هغه مغلي امیر ته د ملك معز الدین کرت په هکله دومره زیات شکایتونه وکړل امیر یې و لمساو او هغه یې یرغل ته اړ کړ چې امیر د بیرته لښکر چمتو کړ او په خپله تر هرات پورې له لښکر سره یو ځای روان شو، معز الدین له پنځلس زره پلي لښکر او څلور زره سپرو سره کلکې مدافعې ته ودرید او څلویښت ورځې یې جګړه وکړه او غزغن ناکام او سولې ته اړوت. معزالدین هغه ته یو شمیر سوغاتونه ولیږل او هغه و منل چې بل کال کې به ماوراالنهر د هغه د لیدو په خاطر ورشي. قزغن بیرته ستون شو او معز الدین هم په خپله ژمنه وفا وکړه او قزغن ورسره د دوستي ژمنه وکړه.

امیر قزغن د خپلې واکمنۍ پر مهال د افغانستان په شمالي ولایتونو یرغل وکړ چې په دې لړ کې یې د تخارستان ولایت د خپلو سپرو لښکرو په پښو لتاړ کړ، نو دا مهال خلکو د تخارستان پراخ خو کنډواله شوی ولایت ته د (قزغن ولایت) نوم ورکړی و او ملي سیمه ییزو شاعرانو د قزغن د لښکر د وحشت او ظلم په هکله ځینې شعرونه ویلي و چې په دې کې یو هم د بېلګې په توګه هغه بیت دی چې اوس هم د تخار او بدخشان په ولایتونو کې د خلکو په ژبه او حافظه کې جاري او ثبت دی، بیت دادی:

هر جا که رسید سم اسپ قذغن نی مرده کفن یافت نی زنده چپن

همدا د قذغن یا قدغن نوم دی چې په څو وروستیو کې کله چې د دفترونو د منشیانو په قلم ولیکل شو نو دوی په خپل آند لږ څه نور هم سم کړ او د (قطغن) په بڼه یې په دفترونو کې ولیك، لکه هماغسې چې یې د لغمان، پغمان، نجراو او تګاو نومونه په لمقان، بمقان، نجراب او تګاب باندې اړولي او (سم) کړي دي. دغو منشیانو دغه لاسوهنه آن د یو شمیر بهرنیو هېوادونو په نومونو کې هم کړې وه، د بېلګې په توګه دوی په مسکو یا ماسکو ته ماسکاب ویل، خو ددغو بدلونونو خطر تردې څخه لږ و لکه اوس چې د یو شمیر سیمو نامتو او تاریخي نومونه بدلیږي د بېلګې په توګه شیندند او سبزوار او نور د.

معزالدین په غیاب کې د غوري دربار فیوډالانو چې لکه د روحانیونو په شان جاه طلبه وو او د معز الدین مخالف او سیالان وو. د معز الدین حکومت پای ته رسیدلی ښللی و او د هغه د ورور ملك باقر پاچاهي یې اعلان کړه. خو معز الدین بیرته را ستون شو او د دولت مرکز یې بیرته ونیو او ملك باقر یې بندي کړ او هغه د ایران شیراز ته واستاو تر څو هماغلته مړ شو. همدارنګه ملك معز الدین خپل مخالف فیوډالان و رټل. په ۱۳۲۹ کال کې معز الدین د اندخوی، شبرغان او قهستان د حاکمانو د نظامي تلوالې سره هم جګړه وکړه سلتمش خواجه د قهستان حاکم او د جنا بد د اوسیدونکي شیخ محمود مرید و. کله چې شیخ خپل کم عقل مرید ته وویل چې که ته له معز الدین سره جګړه وکړې زه به دولس زره سبزپوش سرې ستا مرستې ته راولم. نو امیر سلتمش په دې خبره باور وکړ او د شبرغان او اندخوي د ولایتونو له حاکم امیر محمد خواجه سره یو خای شو او دواړه لښکر د معز الدین په وړاندې و خوځېدل. معز الدین د هرات د دفاع په لټه کې شو او د جګړې په لومړۍ ورخ د دښمن د دوو لښکرونو دواړه امیران د معزالدین د لښکر په غشیو ولګیدل او ووژل شول. په دې توګه د دښمن لښکر خور ور شو. له هغه څخه وروسته معز الدین ناروغ شو او په ۱۳۲۹ کې مړ شو.

## د دوهم ملك پیر علي غیاث الدین د امارت پر مهال (۱۳۶۹ – ۱۳۸۱)

د معز الدین له مړینې وروسته ده مشر زوی ملك پیر علي پاچا شو. کوچنی ورور یې ملك محمد چې په امیر خورد باندې مشهور شوی و، د سرخس په حکومت پاتې شو. د پیر علي د دولس کلن حکومت په دوران کې څو څو خله هغه متعصب فقیان د مذهبي اختلاف په نوم د سبزوار د سربداری حکومت په ضد (چې امامیه مذهبي طریقه یې درلوده) پارول. ددغو لمسونونو په پایله کې جګړې وشوې چې نیشاپور ته زیان واوښت او بیا په پای کې د کرت د ملك له خوا ونیول شو او د هرات د کرت حکومت سره وتړل شو. تردې مهال پورې امیر تیمور ګورګان په ماورالنهر کې ښه پوره پیاوړی شوی و او د آسیا د نیولو په لټه کې شوی و. امیر تیمور په ۱۳۷۲ کې د کرت د بارته یو سفیر واستاو او له ملك پیر علي سره یې د پلار او زوی والي خبرې وکړې.

پیر علي چې د هغه د خواك په هکله اټکل کولای شو. نو د روغې- جوړې له لارې ور مخته شو او هغه ته یې د اخلاص ښودنه وکړه او له امیر تیمور څخه یې دا هیله هم وکړه چې دده زوی ملك پیر محمد د خپل زوم په توګه ومني. تیمور ومنله. په بل کلا امیر زاده پیر محمد د تیمرو دربار ته ورغی. تیمور هغو ته په درناوي سر ښه راغلاست ووایه او بیرته ستون شو. تیمور خپله خورزه (سونج قتلق آغا) د (شیرین بیګ آغا) لور هغه پسې لاخره په ډېر تجمل سره هرات ته ور ولیږله. واده په ۱۳۷۷ کال کې په هرات کې تر سره شو. ملك پیر علي د تیمور له دغه چلند څخه ډاډه شو. خو د خرګوش په خوب ویده شو. تر څو چې په ۱۳۸۰ کې تیمور له جیحون څخه را پورې وت او په ۱۳۸۱ کې هرات ته نژدې را ورسید. پیر علي د تیمور دربار ته له ورتګ څخه ډډه وکړه. خو د هرات ښار یې د دفاع په خاطر کلك کړ. څلور ورځې جګړه وشوه. پیر علي په دې باندې پوه شو چې د دښمن د پوځ شمیر دده د پوځ په پرتله زیات

دی، نو جګړه يې و دروله، په خپله د هرات په باغ زاغان کې د امیر تیمور دربار ته ورغی تیمور ده درناوی وکړ او هیڅ یې ورته و نه ویل او بیرته یې حکومت کې پرېښود. پیر علي بیا داوه شو او علم کیناست، خو تیمور چې ماورالنهر ته بیرته ستیند، نو پیر علي یې له ټولې کورنۍ سره یو ځای ځان سره په بندي ډول سره سمرقند ته بوت او په بل کال یې د کرت د سلسلې دغه وروستی پاچا له ټولې کورنۍ سره له چړو تیر کړ. په دې توګه د کرت د یوې نیمې پیړۍ د حکومت دغه وروستی تته ډېوه مړه شوه او په افغانستان کې د کرت حکومت ختم شو.

په افغانستان کې د مغلو د یو نیم سل کلنې دورې سلطنت په ترڅ کې، د هرات د کرت د ملوک دربار یواځنی ملي مرکز او د فضل او ادب زانګو وه، د بېلګې په توګه د جویني کورنۍ د ایران د مغلو په دوره کې د علم او ادب د هڅونې لامل شول، یا هم د بېلګې په توګه د افغانستان غوري واکمن په هندوستان کې دهغو پوهانو لپاره د پناه ځای شو چې د مغلو له لاسه تښتیدلی وو، یو شمیر پوهانو، عالمانو او دانشمندانو لکه کابتي، قزویني، کمال الدین هیثم بحراني، صفي الدین ارموي او نورو خپل آثار د جویني د کورنۍ په نوم لکه (رساله الشمسیه در منطق، شرح نهج البلاغه او رساله شرفیه در موسیقي) او یو شمیر شاعرانو لکه بدر جامي، سعدي شیرازي، همام تبریزی، پوربها جامي او نورو د جویني کورنۍ ستاینې کړې وې. یا هم د هند د غوري کورنۍ ته پناه وړونکو فضلاوو لکه عوفي بخارایي او قاضي منهاج السراج جوزجاني خپل ډیر ارزښتمن آثار لکه لباب الالباب د وزیر ناصر الدین په نوم کړي و همدارنګه دا مهال د الفرج بعد الشدة، جوامع الحکایات، لوامع الروایات او طبقات ناصري ډیر غوره تاریخ چې د ناصر الدین قباجه غوري او سلطان ناصر الدین محمد وري په نوم لیکل شوي و. همدارنګه د کرت د کورنۍ معاصرو فضلاوو هم خپل یو شمیر آثار ددغې کورنۍ په نوم ولیکل لکه ربیعي، پوشنګي، امامي هروي، ابن یمین فریومندي جویني، سعد الدین تفتازاني (چې المطول معروف یې لیکلی و) او نور. ملك فخر الدین کرت په خپله شاعرانه طبع درلوده چې څه نا څه څلوېښت شاعران د ده په دربار کې وو. همدارنګه ملك مغز الدین د علم او پوهې لوی هڅوونکی و. په دې توګه د دوی هڅو پرې نه ښوده چې د افغانستان پیاوړی ادبي تاریخ له راتلونکی سره بیخي پرې شي.

د کرت دولت د یوې نیمې پیړۍ په ترڅ کې ورو ورو و کولای شول چې د افغانستان د کنډوالو په خاورو کې یو کوچنی تاپو د کرنې، سوداګرۍ او آبادي لپاره جوړ کړي. د هرات ښار په همدې دوره کې آباد شو او مدرسه، جومات او بازار او کارخایونه پکې جوړ شول. دلته د کرنې وسایل، لاسي صنایع او سوداګري بیرته ژوندی شوه. کرنه، بڼ روز نه او مالداري د هرات ولایت شاوخوا بیا ورغول شوه او د کرت په قلمرو کې نوی کلاوې جوړې شوې. غور د وسلې په جوړولو پیل وکړ او هرات بیرته خپل پخوانی د اوبدلو صنعت را ژوندی کړ. همدا مهال و چې د هرات نوی ښار د بلخ او پخوانی مرو پر ځای د سوداګرۍ مرکز او د چین او د ماورالنهر د سوداګریزو قافلو لاره و ګرځیده. البته د افغانستان خلکو په خپلو عوایدو د واردو شویو مالونو د پیریدلو وس نه درلود، یواځې ممتازو طبقو د ښکلیو او ظریفو شیانو د پیریدلو وس درلود. د افغانستان خواریکښ او رنځیدلي خلك په شمال لویدیځ کې د کرت د

Scanned by CamScanner

مرکز په شاو خوا را تړول شول او له لاسه وتلې پرتمین ژوند بیا رغونې ته یې لاسونه سره ورکړل. ددغو هڅو پایله دا شوه چې هرات ښار لږ لږ آباد شي، آن دا چې د کرت د کوچني دولت له نړېدلو او پرځېدلو وروسته هرات ددې وس درلوده چې د افغانستان پلازمېنه شي او د منځنۍ آسیا په څلور لاره کې یو لوی ښار جوړ شي. ابن بطوطه نامتو نړۍ ګرځېدونکی چې په همدې کلونو کې هرات ته راغلی و، د هرات ښار یې د نیشاپور په شان یو لوی ښار ښودلی و. د کرت حکومت په اساسي ډول جوړ شوی و. په دغه حکومت کې قضایي قواو قاضیان، دفاعي قوت، سپاهیان او منظم افسران، د مالیاتو دیوان او دفترونه، کوتوال او د سیمه ییزو حکامو قلعه داران، مدارس او ښوونکي. کلتور او تمدن او دربار. زده کوونکی او شاعران او لیکوالان وو. دغه ټول د یوه نوي افغانستان د جوړېدو لپاره وروسته د مغلو له واکمن کېدو او ویجاړتیا څخه مهم بلل کېدل. سره له دې چې د افغانستان په یو شمیر نورو سیمو کې هم سیمه ییز لارښوونکی او خلك د بیارغونې په هڅه کې شوی وو آن دا چې په سیستان کې د «جلال آباد» نوی ښار جوړ شو او د سیمه ییزو واکمنو پلازمېنه و ګرځېده، بیا هم د هرات ښار د نورو په پرتله لږ څه وړاندې و، دا څکه چې د هېواد نور ښارونه په یوه کوچنۍ دایره کې را ګیر و او د بیا ژوندي کېدو لپاره یې لومړنۍ هڅې پیل کړی وې، حال دا چې په لږ څه لویو ښارونو لکه طوس او نیشاپور کې د بهرنیو نیواکګر واکمنی وه.

# لسم څپرکی

# افغانستان په څورلسمې او پنځلسمې میلادي پیړیو کې

## لومړی
## نوی یرغل

### ګورګاني امیر تمیور

په ماوراالنهر کې د امیر تیمور د را څرګندیدو پر مهال اداري او سیاسي حالات ګډوډ وو، نو ځکه د بیا ځلې یووالي او نظم راوستو لپاره یوه ځواکمن لاس ته اړتیا وه. پخواني چغتایي پیاوړی دولت له منځه تللی و او اداري مرکزیت ډېر ضعیف شوی و. د مغلي قبیلوي شریکي دولت کړه وړه او چلند هم د هرې سیمې د حاکم او خان په لاس د یوه ظالمانه او مستقل خپلواك امارت بڼه درلوده او خلك یې تر مالي فشار، ظلم او تعدي لاندې نیولی وو. چغتایي دولت دوه برخې شوی و، یوه برخه یې په ماوراالنهر کې د خانانو او امیرانو د سیالیو ډګر و، بل یې په کاشغرستان کې د تغلق تیمور خان تر مشرۍ لاندې د پخواني ځواك او پرتم د تر لاسه کولو او ساتلو لپاره هلې ځلې کولې. په ماوراالنهر کې یوه غیر اشرافي څېره چې امیر قذغن نومید، د سیاست په ډګر کې ګام ایښی و او چغتایي پاچاهان یې یو بل سره اچول او یو یې د بل پر ځای کینول، نو ځکه هغه ته خلکو امیر تاج بخش نوم ورکړی و. هغه په سمرقند کې وروسته د چغتایي سلطان خزنان له وژل کیدو څخه په واك منګولی لګولی وې او د خپل واك د ساتلو لپاره یې دا منلې وه چې هرې نوې او فعالې څیرې ته بنه راغلاست ووایي، تر څو د هغه په مرسته د هر کورني او بهرني مخالف له سرغړونکې او تیرې کوونکې څخه مخنیوی وکړي.

ځوان تیمور د همداسې یوې ډلې څخه و چې نوی یې ډګر ته ګام ایښی و او د امیر قدغن دربارته ورغی امیر قذغن هغه په ورین تندي و مانه او هغه ته یې د (منګباشي) عسکري رتبه یعنی د هزاري افسر درجه ورکړه او د خپلې کورنۍ یوه نجلۍ یې هم ورته په نکاح کړه چې (الجاي خاتون) نومیدله. په دې توګه ځوان تیمور د ماوراالنهر په سیاست کې په یوه اوچته بڼه را څرګند شو، په تیره بیا په داسې مهال کې چې امیر قزغن په ۱۳۵۰ کال کې د هرات د کرت له دولت سره د افغانستان د شمالي ولایتونو له یرغل

څخه وروسته د جګړې او سولې په ترڅ کې ګڼ شمیر نظامي افسران د خان مخالف ګرځولي وو، دا څکه چې هغوی د کرت له پاچا سره روغه- جوړه نه منله او غوښتل یې چې هرات لوټ او په نظامي بڼه ونیول شي. ددغه مخالفت پایله دا وه چې په ۱۳۵۸ کې په خپله امیر قذغن ووژل شو او ملوك الطوایفي زیاته شوه. څلور ګونې قبیلې هر یوه: ارلات، جلایر، برلاس او فاو چې دا میر قذغن په ضد را پاڅیدلې، په دې لړ کې امیر بیان سلدوز او حاجي برلاس د قزغن ځای ناستی او د هغه زوی امیر عبد الله ووژه. تیمور چې کله خپل لومړنی ملاتړې له لاسه ورکړه. خپل تره یعنی د برلاس د قبیلې مشر «د حاجي برلاس» سره یو ځای شو، خو بیا یې هم یوه خپلواکه لاره خپله کړه «دا مهال تیمور ۲۵ کلن و»، خو تیمور څوك و؟

تیمور د تورك د برلاس قبیلې د یوه نظامي اشراف «ترغای» زوی و چې سبز یا کش یا «شنه ښار» اوسیدونکی وو. دغه ترکي قبیله چې کله ماورالنهر ته راغلله د همدغه سبز ښار په شاوا کې میشت شول او همدلته له منځه هم ولاړل. د برلاس قبیله له اقتصادي پلوه بیوزله وه او د تیمور پلار یو ګوشه نشین سړی و، د نیمور مور «مکنه خاتون» نومیدله چې په ۱۳۳۳ کال کې یې دغه زوی پیدا شو. د قزغن له مړینې وروسته د تیمور پلار هم مړ شو او تیمور د سبز ښار کې یواځې پاتې شو. د هغه د ځوانۍ د عمر د پیل د کلونو په هکله پوره معلومات نشته خو دومره ویل کیدای شي چې هغه په یوه نسبتاً متمدن چاپیریال کې را لوی شوی و او په دري ژبه باندې ښه پوهید. تیمور په دیانت کې د ډیرې کلکې عقیدې لرونکی او یو متعصب مسلمان و. هغه دیني علماوو او روحانیونو ته درناوی کاو او آن دا چې د «شیخ شمس الدین کلار شهر سبزي» مرید و، خو دغه ارادت او اعتقاد په چارو کې د تیمور د خپلواکي مخه نه نیوله، هغه لمونځ کاو، صدقات یې ورکول او شراب یې هم څښل او وینې یې تویولې، تیمور یو با همته ماجراجو او په عین حال کې ثابت او سر سخت خواریکښ خو ډیر سرکش او بیړاو. تیمور په منځنۍ آسیا کې د شهنشاهي له جوړولو وروسته زیاتره وخت خپل نظر خپلو درباریانو ته داسې څرګنداو: نړۍ ډیره ارته نه ده او د دومره ډیرو پاچایانو لپاره ځای نه لري، د نړۍ د هرې څلورمې برخې لپاره یو پاچا بس دی. هغه په ډیر افراطي بڼه په خپل نفس ویسا والی او استبدادی خوی درلود: د مشرانو، امیرانو، فتوا ورکوونکو او ښوونکو مشورې ته یې غوږ نه نیو. تیمور د فزیکې بڼې له پلوه یو پیاوړی، کلك او تکړه آس ځغلوونکی او ښۀ نښه ویشتونکی و. ښکار او شطرنج سره یې ډیره مینه وه. هغه زیاته انرژي او طاقت یې چې درلود، دې یې تل په بیړه او نارامه ساتلی و. د بزرګواری له مخې سره سینه یې نه پیژندله. هغه خپل ټول ژوند په فعالیت او پر له پسې حرکت او خوځنده تیره کړ او ډیر کړاوونه یې هم وګالل مثلاً ده ډیر اوږده وږده مزلونه وکړل: د بېلګې په توګه هغه په ۱۴ ورځو کې له کندهار څخه په آس باندې سمرقند ته ولاړ، د قبچاق د دښتو په مزل کې یې ۱۸۰۰ میله لاره په څلور نیمو میاشتو کې ووهله، کله یې چې غوښتل کوچنۍ آسیا ونیسي، د اویا کالو په عمر له سمرقند څخه تر انقرې پورې څه نا څه ۲۰۰۰ میله لاره یې مزل وکړ، خو سره له دې هم د یو شمیر عواطفو لرونکی و چې له هنر سره په مینه کې اوله خپلې کورنۍ او ماشومانو سره یې مینه کې را څرګندیدل. هغه په خپل

ژوند کې ۱۸ ځله نکاح وکړه او د خپل لمسي (محمد سلطان میرزا) په مړینه یې لکه د ماشوم په شان په کوکو وژړل. تیمور یو تکړه او زړور سر لښکر او په عین حال کې ډېر وینه څښونکی او د کلك زړه لرونکی و. داسې ویلای شو چې په ټوله نړۍ کې تیمور ته د هېوادونو د نیولو او وینو بهولو په برخه کې (غوره بېلګه) یواځې چنګیز و. دا مهال لا په ماورالنهر کې په هر کور او هره قبیله کې د چنګیز نکلونه کیدل او تیمور هغه له کوچنیتوب څخه اوریدلي وو او په حافظه کې یې ساتلي و. چنګیز خان د تیمور په نظر کې د نړۍ لوی اتل بلل کید او د هغه کړه وړه یې منلي و او د هغه په ګام یې ګام ایښودل ور بلل، سره له دې چې تیمور په اصل کې ترکي و، خو هڅه یې کوله چې ځان مغل چنګیز ته خپلوان وښیي (هغه مغل چې د تاریخ په ترځ کې د آسیا له آریایي قومونو سره یو ځای او ګډ شول د ترکو نوم ورکړل شو) تیمور په وژلو او وینو بهولو او د هېوادونو په نیولو کې ګام په ګام د چنګیز په پل قدم کیښود، خو بیا هم تیمور له چنګیز سره توپیر هم درلود. چنګیز یو پیاوړی او ذکي، صبر کوونکی او سارایي زیږ او له تاوتریخوالی ډك سړی و چې ویني او لمبې به په طبیعي او ناشعوري توګه ور څخه بادیدې، خو تیمور سره له دې چې ظلم بد ګڼل، خو بیا یې هم په ظلم لاس پورې کاو او له تیرې کولو او وینې تویولو یې درد هم احساس کاو او بیا به یې توبه هم ایستله او صدقات به یې ورکول او جومات کې به یې لمونځ کاو، خو بیا به یې وینې تـه یولې. سره له دې چې تیمور لکه د چنګیز په شان د دښمن په وړاندې ډېر کلك و او د هغه په شان بې رحمه و، خو مدرسې او جوماتونه یې نه نړول او مسلمان علما او روحانیون یې نه وژل. هغه د خپل ژوند په وروستیو کې لـه هغو ګناهانو څخه توبه وکړه چې تر سره کړي یې وې او د اتراز ترځنګ یې د ساز او سرود وسایل او د شرابو لوښي مات کړل. سره له دې چې دا کار یې د مرګ په بستر کې وکړ، خو بیا هم مخکې لـه نـاروغي څخه یې پـه سمرقند کې لـه د غـو ډېـرو وینـو تویولو پښیمانې وښوده او هغه ډېرې آبروګانې چې برباد کړې یې وې د هغو د بیا جبران او تلافي هڅه یې وکړه، خو دغه تلافي د هغه پـه فکر دا وه چې د فقهـاوو پـه اصطلاح (د سنتو پـه غزوي) لاس پـورې کـړي او د ډېرو نا مسلمانانو به مسلمان کولو لاس پورې کړي او یا یې هم ووژني (غزا کول)، دا ځکه تر اوسه یې چې وژلې وو او وهولې یې و ټول مسلمانان وو نو دا ځل یې هغه کفار چې دده په وس کې وو لکه د چین خلك، نو په هغو یې پیل وکړ او د عمر په یو اویا کلنی کې پـه سره ژمي کې پاڅید پـه داسې وخت کې چې د جیحون سیند ټول کلك کنګل و لښکر یې د چین په لوری روان کړ چې هلته هغه وینې یو ځل بیا په وینو و منیځي چې پخوا یې ورڅخه توبې کړې وې. باید وویـل شي چې د تیمور پـه ټولو جګړو کې همدا یـواځنې هغـه جګړه وه چې مـذهبي رنـګ یـې درلـود او بـس، حـال دا چـې د هغـه نـورې جګړې ټولې د هېوادونو د نیولو او د خپل پرتم د ټینګولو لپاره وې. تیمور لکه د چنګیز په شان سړه سینه نه درلوده او د هېوادونو په اداره کې یې هم د کلکې ادارې او دور اندیشي توان نه درلود.

کله چې امیر قزغن مړ شو تیمور د حاجي برلاس د ملاتړ وړ و ګرځید، تر څو چې پـه ۱۳۶۰ کال کې د ختیز چغتایي پاچا (تغلق تیمور) مخ په ماورالنهر لښکر راوست او ددغو سمو ټول ملوك الطوایفي یې تابع کړل. د سبز د ښار امیر حاجي برلاس د تغلق له ویرې افغانستان تـه را وتښتید، همدارنګه د خنجد

Scanned by CamScanner

امیر بایزید جلایر هم و تښتید، خو امیر بیان سلدوز او تیمور د تغلق تیمور له دربار سره یو ځای شول. تیمور د تغلق تیمور خوښ شو، نو هغه ته یې د سبز د ښار حکومت او د تومان باشي رتبه (د لس زره تنو افسري) ورکړه. تیمور له همدې مهاله ورو ورو تر سمرقند پورې پر مخ ولاړ. کله چې تغلق تیمور ماورالنهر وینو، نو شمال ته وګرځید او فراري امیران لکه حاجي برلاس او امیر بایزید جلایر بیرته خپلو سیمو ته ورغلل، خو وروسته له دغې پیښې څخه نور نو حاجي برلاس تیمور وران شو. په دا سې مهال کې امیر حسین بن امیر مسلا بن امیر قزغن له افغانستان څخه له یو شمیر افغاني سپرو سره ماورالنهر ته راغی تر څو د خپل امیر عبداله بن قزغن د وژلو کسات له امیر به این سلدوز څخه واخلي.
دا مهال نو امیر حسین او امیر خضر د شادمان په کلا کې ځانونه سمبال کړي وو او د مخالفو قبایلو پر نورو برخو یې یرغلونه کول، تیمور چې د هغه اوښی و ور سره ملاوتړله او د هغه له قبیلوي جګړو سره یو ځای شو په ماورالنهر کې د ترکو او د مغلو د قبایلو د رئیسانو اړ دوړ او ملك الطوايفي تغلق تیمور دې ته اړ کړ چې یو ځل بیا په ۱۳۶۱ کې ماورالنهر ته راشي او د قبایلو مشرانو باندې یې زور راوړ او ځینې یې ور مړه کړل. هغه د ماورالنهر حکومت خپل زوی الماس ته وسپاره او تیمور یې ور سره یو ځای پرېښود او په خپله یې په افغانستان کې کندز او بغلان ولوټل او بیرته ستون شو. ډیر وخت لا نه و تیر شوی چې د تیمور او الیاس ترمنځ اړیکې خرابې شوې، نو څکه تغلق تیمور ډیر په غوسه شو، تیمور د تغلق له ډیر قدرت څخه په ویره کې و، نو څکه یې له امیر حسین سره (چې لکه د تیمور په شان د لوړو فکرونوا و ډیرو مدعاو د لرونکی و) یو ځای شو او له هغه سره یو ځای خوارزم ته ولاړ. هلته د خیوي د پاخان په جګړه واوښت (چې هغه د ماورالنهر د مغلي دولت پلوی و). سره له دې چې خان په دغه جګړه کې ووژل شو، خو تیمور او حسین په خوارزم کې د پښې ټینګولو ځای و نه موند، نو څکه لومړی سمرقند ته او بیا ورپسې سبز ښار ته ولاړل. له هغه ځایه دواړه د نوي ځواك د چمتو کولو په خاطر افغانستان ته راغلل، دا مهال د بلخ په ولایت کې اولجای بوغا سلدوز، د جوزجان په ولایت کې محمد خواجه ابروي او په بدخشان ولایت کې سیمه ییز پاچایان په خپلواك ډول په واك کې وو.
حسین او تیمور په بلخ، تخارستان او بدخشان کې یو بل سره د ځواکونو د ټولولو په هکله په خبرو اترو وو چې دا مهال چغتایي پاچا تغلق تیمور ومړ، په دې توګه الیاس خواجه خپل ملاتړی له لاسه ورکړ. حسین او تیمور ماورالنهر ته ننوتل. الیاس خواجه ته یې د سبز د ښار په شاوخواکې ماتې ورکړه او و تښتید، دوی دواړه سمرقند ته ننوتل او (کابلشاه او غلان) یې د ماورالنهر د پاچا په توګه د الیاس خواجه پر ځای وټاکه، خو الیاس خواجه یو ځل بیا ځان سمبال او په ۱۳۶۳ کې یې یرغل وکړ او حسین او تیمور ته یې د سیحون تر غاړو پورې ماتې ورکړه او په خپله مخ په سمرقند روان شو. سمرقند دفاع وکړه او له بلې خوا د الیاس په لښکر کې یو ډول د وچکی ناروغي ولګیده، نو څکه هغه د خپل پلرنی ټاټوبي پلازمینې، الماسیق ته ستون شو. حسین او تیمور هم د سیحون له ماتې ورؤسته یو په بل پسې افغانستان کې پټ شول. تیمور لومړی کندهار ته او بیا له هغه ځایه سیستان ته ولاړ او په هغه جنګ کې یې د سیمه ییز حکومت په پلوي ګډون وکړ چې د سیمه ییز حکومت او د هغه ځای د خلکو ترمنځ پیښ

ورپسې شکمن شو او د هغه د له منځه وړلو په لټه شوی و، خو لږ څه وروسته د هغه ځای سیمه ییز امیر وړ په جګړه کې په پښه لګیدلی و او ګوډ شوی و، نو له سیستان څخه کې شو. تیمور چې د سیستان په جګړه کې په پښه لګیدلی و او ګوډ شوی و، نو له سیستان څخه تیښتې ته اړ وت او بیرته ماورالنهر ته ستون شو. امیر حسین وکولای شول چې د بلخ او بدخشان په مرسته سمرقند ونیسي او یو تن د ماورالنهر د مغلي پاچا په توګه او خان د نایب السلطنه په توګه اعلان کړي.

امیر حسین تیمور ته د شك په سترګه کتل او د هغه خارنه یې کوله. په تیره بیا تر دې مهاله پورې (۱۳۶۷ کال پورې) د امر حسین خور یعنی د تیمور ښځه هم مړه شوې وه، نو ځکه د دواړو ترمنځ د واك پر سر شخړه هم را څرګنده شوی وه. تیمور د سولې د لیوه تر څنګ چې لا اوس هم و، د امیر حسین له کلك چلند څخه په تنګ شو، همدا چې د سبز ښار په اقطاع کې ده ته ورسید، ډیر په خوشحالي یې د منله، نو ځکه له سمرقند څخه هغه ځای ته ولاړ. تیمور بیا وروسته د قرشي کلا په یوې نظامي دړکې سره ونیوله او هلته دزیات ځواك لرونکی شو. بیا یې په افغانستان کې د بدخشان ولایت خپلې اغیزې لاندې کړ او له هرات سره یې د روغي - جوړې او سولې له لارې چلند غوره کړ. خپل زوی جهانګیر یې د کرت دربار ته ولیږه او سلطان معز الدین حسین کرت هغه سره د مرستې ژمنه وکړه. له هغه څخه وروسته تیمور په قرشي کې د امیر حسین له ځواکونو سره مخامخ شو چې وروسته تر جګړې یې سوله وکړه. امیر حسین له قرشي څخه بدخشان ته ولاړ او بیا له تیمور سره یو ځای مخ په کابل له لښکر سره یو ځای راغی او کابل یې کلا بند کړ، وروسته تر هغه دواړه مخ په بلخ ولاړل او په پای کې دواړه ماورالنهر ته ستانه شول او هلته یې د مغلو ځواکونو ته ماتې ورکړه. امیر حسین سمرقند ته نژدې په (سالی سرای) کې میشت شو او تیمور په سبز ښار کې پاتې شو. لږ موده وروسته بیا د دواړو ترمنځ شخړه را پورته شوه او امیر حسین بلخ ته را ورسید، د هندوان کلا یې و نیوله هغه یې بیا ورغوله او د خپلې حکمرانۍ پلازمېنه یې وګرځوله، خو تیمور پرې نه ښود او مخ په بلخ یې لښکر وروست. د بدخشان امیر شاه شیخ محمد، د کندز امیر اولجاي بوغا او د ختلان حاکم کیخسرو په دغه جګړه کې د تیمور ملاتړ وکړ او په دې توګه تیمور امیر حسین ته ماتې ورکړه او هغه یې ونیو. هغه یې د کړی ژمنې سره سره ووژه او د هغه ښځه یې خانته واده کړه.

تیمور په ۱۳۶۹ کې د هندوان کلا له ورانولو وروسته خپله خپلواکی د امیر تیمور ګورګان په نوم اعلان کړه، ځکه ده لا دا مهال نه غوښتل خان د پاچا په توګه اعلان کړي یعنی ده د سیاست له مخې (سیور غلتمش اغلان) د (دانشمند چه) د چغتایي پخوانی پاچا زوی د ماورالنهر د پاچا په توګه مخکې کړی و نو ځکه یې خانته د پاچا نوم ور نه کړ، بلکې خان یې امیر وباله او اولادونو ته یې د میرزا لقب ورکړل شو. په سمرقند کې د تیمور په لاس کینول شوي پاچا پرته له ډوډۍ خوړلو بله کومه دنده او واك نه درلود، نو ځکه تیمور هغه وروسته بیا له دندې څخه لرې کړ تر خو چې په ۱۳۸۷ کې په بخارا کې مړ شو او تیمور د هغه زوی محمود خان په سمرقند کې د هغه پر ځای کیناو، لا دا مهال هم تیمور د هغه نوم له دود سره سم د منشورونو په پیل کې لیکه.

Scanned by CamScanner

## د امیر تیمور ګورګان پاچاهي او سوبې

کله چې امیر تیمور په افغانستان کې د پاچاهي اعلان وکړ، ددغه هېواد او د هغه د شاوخوا نورو هېوادونو سیاسي او اداري حالات د یوه ځواکمن دولت د جوړولو لپاره ډېر ښه برابر وو. په دې معنا چې په افغانستان کې سراسري مرکزي دولت او سیاسي یووالی نهٔ و. په بدخشان کې لومړی شاه شیخ محمد او بیا ورپسې شاه بهاء الدین، په تخار، کندز او بلخ کې امیر اولجای اوغا سلدوز، په جوزجان کې امیر محمد خواجه، په هرات او غور کې کرت پاچایان، په نیشاپور کې سربداري امیران، په سیستان کې ملك قطب الدین، په فراه کې ملك جلال الدین او همدارنګه په نورو ولایتونو لکه کابل، کندهار او ننګرهار او پښتور او بلوچستان کې نور نور سیمه ییز واکمنان، مغلي قبایلي خانان او داسې نور په واك کې وو چې هر یوه یو له بل څخه جلا حکومتونه چلول. په ایران کې د ابو سعید بهادر خان له مړینې وروسته اداري اړ دوړ پیدا شوی و، چې هېواد د لویو فیوډالانو سیمه ییزو ځواکمنو امیرانو په لاس کې لویدلی و او د هېواد د ویشل کیدو او ټوټه ټوټه کیدو ویره وه. په ماورالنهر کې لا پخوا (په دولت کې قبیلوي شرکت) یا د قومونو له مخې په واك کې ګډون د مرکزي دولت اقتدار او د سلطنت تمرکز له منځه وړی و او د تغلق تیمور له مړینې وروسته کاشغرستان د پخواني اداري ځواك نه درلود. د ماورالنهر په شمال کې د (اردوي مطلا) مقتدر دولت په څو څو سیمه ییزو خانینو ویشل شوی و چې هره یوه یې جلا جلا او خپلواکه وه، آن دا چې یو مهال له کریمیا څخه توقتمش را پاڅید او د قبچاق د مطلا پاچا (اوروس خان) زوی یې مړ کړ او په خپله بیا د تیمور در بارته ورغی او ځان یې ددغه پردې سرې په سیوري کې د قبچاق د خاني پرتخت کیناو. له بلې خوا په ماورالنهر کې مغلي حکام او امیرانو تل په نیول شویو سیمو کې په کورنیو شخړو او یو پر بل د ځغاستلو لوبه شروع کړې وه او د نیول شویو سیمو په لوټ او تالان اخته وو او په بیوزلو بزګرانو او مالدارانو باندې یې درانه مالیات اینښودل، دغه فشار تر دې بریده رسیدلی و چې د مذهبي علماوو د خپګان لامل هم شو، نو ځکه هغوی د مذهب له پلوه د مغلو د پرځولو د واجبوالي په هکله یوه فتوا هم ولیکله او هغه یې په ماورالنهر کې تیمور ته وسپارله.

ددغو ټولو هېوادونو سوداګري د بې شمیره ملوك الطوایفي د شتوالي له امله خنډ او ځنډ سره مخامخ شوی وه، چې بیلا بیل ګمرکی عوارض او د لارو د امنیت نشتوالي سوداګري زیان سره مخامخ کړې وه.

په همداسې وخت او مکان کې د تیمور تر مشرۍ لاندې یو ځواکمن دولت جوړ شو او د هېوادونو په نیولو یې پیل وکړ. تیمور خپل ټول ژوند د هېوادونو په نیولو ځار کړ. ده څه نا څه یو په بل پسې د ماورالنهره څلورو خواوو باندې یرغلونه وکړل تر څو چې خپل قلمرو یې د چین له پولو څخه ترمدیترانې او له هند څخه د روسیې تر جنوب پورې ورساو.

## د خوارزم نیول

تیمور په ۱۳۷۲ - ۱۳۷۵ - ۱۳۷۹ او ۱۳۸۷ کلونو کې څلور ځله پر خوارزم یرغل وکړ تر څو چې د خوارزم واکمن حسین صوفي ددغو جګړو په ترڅ کې مړ شو او یوسف صوفي د هغه پر ځای کیناست او هغه هم بیا ماتې سره مخامخ شو. تیمور د خوارزم ښار داسې کنډواله کړ چې تر دریو کلونو پورې هلته هیڅ ژوندي ژوند نه کاو، خو له هغه وروسته کله چې د قبچاق د اردوي مطلا د مغلي پلویانو او عوامو د خلکو د پاڅون ګوابښ ښه پوره له منځه ولاړ، نو تیمور ددغه ښار د بیا ودانولو اجازه ورکړه.

## د قبچاق نیول

تیمور چې د قبچاق له سیمه ییز مغلي خواك څخه په ویره کې و په ۱۳۷۷ کې یې د قبچاق د پاچا د زوی قاتل توقتمش خان چې دده دربار ته را تښتیدلی و د قبچاق د دولت مخې ته ور وړاندې کړ او هغه یې پیاوړی کړ، تر څو چې هغه د تیمور په مرسته د شرقي قبچاق د پاچا له مړینې وروسته و کولای شول د قبچاق نوي پاچا تیمور ملك ته ماتې ورکړي او په دې توګه د قبچاق تخت او تاج تر لاسه کړي، خو تیمور له دغې معاملې څخه هیڅ کومه ګټه پورته نه کړه او پښیمانه و، دا ځکه چې توقتمش خان به خپله یو ډیر واك غوښتونکی او په خپله یو کلك سړی و. په چایي ډډه نه لګوله او ده غوښتل چې د مغلو لړزیدلی واك بیرته په آسیا کې را ژوندی کړي. نوموړي په ۱۳۸۷ کې روسیې باندې یرغل وکړ او د مسکو ښار یې ونیو هغه یې وسوځاو او روسیې شهزاده ګان یې خان سره برمته کړل.

توقتمش تل د تیمور لپاره یو ګوابښ او ویره وه، د تیمور په وړاندې لومړني یرغلونه هم د همدې توقتمش له خوا په ده باندې وشول.

توقتمش په ۱۳۸۴ او ۱۳۸۲ کې دوه ځله ماورالنهر او ایران باندې یرغل وکړ هغه یې لوټ کړل او بیرته را ستون شو. تیمور د خپل سیال (بد) د له منځه وړلو په خاطر په ۱۳۹۰ - ۱۳۹۴ - ۱۳۹۲ کلونو کې د غبرګون په توګه یرغلونه وکړل، ده هر ځل خپل سیالان ډیر ژر ماتې سره مخامخ کړل، تیمور به دغو نظامي سفرونو کې له ډیرو کړاوونو سره مخامخ شو. دا ځکه چې دښمن له ده څخه یوزر او څو سوه میله لرې و، چې هغه به بې پایه دښتو کې چې څو سوه میله پراخه وي لکه د یوې غرځې په شان له یوې خوا تر بلې وخغاستل او د دښمن لاس ور و نه رسید. امیر تیمور په ۱۳۹۰ کې ددغې اوږدې لارې مزل تاشکند څخه د قبچاق تر دښتې پورې په څلور نیمو میاشتو کې وکړ. هغه هم په داسې یو حالت کې چې لښکر یې آذوقه هم نه درلوده او پراخه ورشوګانې له کروند او کورونو څخه تشې وې، د تیمور په لښکر کانې راغله او د یوه پسه بیه او د یوه من غنمو بیه سلو دینارو ته ورسیده.

د لښکر سرتیرو د دښتې مرغانو هګیو او دیو شمیر بوټو په خوړولو ورځ تیروله. خو له دې سره سره بیا هم د تیمور د یو کلك او وسپنیز نظم له امله هیڅ غږ نشو پورته کولای تیمور د اردو افسران د تبې د دودې (چې کماچ بلل کیده او په غوړیو کې پخیدله) له خوړلو منع کړل. هغوی د عادي ډوډۍ له خوړلو هم منع کړل د هغې پر ځای یې امر وکړ چې هر افسر به لکه د یو سرتیري په شان یو اخې یوه کاسه بلماق

خوري او بس. «بلماق یو ډول آش و چې له یو من اوړو او لږ څه سبو سره یو ځای پخیده» تیمور هرو شپیتو تنو ته شپیته کاسې بلماق مقرر کړ، که چیرې به د ښکار غوښه برابره شوه، دا نو لښکر ته ډیر د خوښۍ ورځ وه. تیمور دا ټول کړاوونه تیر کړل او ځان یې تر دښمن پورې ورساو او د دښمن ۳۰ زره لښکر یې وټکاو. خو توقتمش هم ډیر کلک سړی و او تیمور ته په لاس ور نغی. تیمور دوه ځله بیا ور باندې یرغل وکړ او ماته یې ورکړه په بل ځل د جنوبي روسیې په لورې ولاړ او د استراخان سیمه یې ټوله لوټ کړه، خو مسکو پورې و نه رسید او بیرته را ستون شو. په همدغه ځل تیمور د «سرای» ښار چې ولګا ته نژدې پروت و او د قبچاق مهم سیاسي او اقتصادي مرکزو ونړاو او د هغه ځای بې ګناه وګړي یې په دښتو کې په ډیره ساړه هوا کې له منځه یوړل.

## د کاشغر نیول.

تمیور په ۱۳۷۴ کال کې په ختیځ کې خپل زوی جهانګیر له لښکر یو ځای ګومارلی و چې د کاشغرستان چغتایي دولت ونړوي. جهانګیر وکولای شول چې د هغه ځای واکمن «قمر الدین» مات او کاشغر لوټ او ونیسي، خو دا د لنډې مودې لپاره و، ځکه کله چې جهانګیر را ستون شو، او بیرته په کاشغرستان واکمن شو. وروسته بیا قمر الدین په ۱۳۸۷ کې د قبچاق له پاچا توقتمش سره یو ځای شو او دواړو یو ځای پر ماورالنهر ور ودانګل، خو پرته له لوټ او تالان څخه یې نور څه و نه کړل او بیرته را و ګرځیدل. دوه کاله وروسته په خپله تیمور د مغلستان په لوري روان شو لږ څه پر مخ ولاړ خو په ۱۳۸۹ کې بیرته را و ګرځید. یو ځل بیا یې په ۱۳۹۸ کال کې د خپل یو ځوی تر مشرۍ لاندې یو لښکر مخ په مغلستان ولیږه، خو د هغه هېواد یو څو کلاوې یې ونیولې او بیرته را و ګرځید.

## د ایران نیول

امیر تیمور په لومړي ځل په ۱۳۸۳ کال کې ایران باندې یو سپک یرغل وکړ او د امیر تغا تیمور له زوی امیر ولي څخه یې استر اباد ونیو او په ۱۳۸۵ کې یې آذر بایجان، عراق او پارس ونیول، له ۱۳۹۱ څخه تر ۱۳۹۴ پورې یې مازنداران او عراقین ونیول، دیار بکر یې هم خپله کړه او د تکریت په کلا کې د ونیول شویو خلکو له سرونو یې څلي جوړ کړل، دا ځکه چې د هغه ځای خلکو او د تکریت امیر حسین ډیره په میړانه جګړه وکړه. تیمور له تکریت څخه وروسته د کرکوك او روحا د ډیرو وینو په تویولو ونیول، ماردین تسلیم شو او د هغه ځای حاکم ملك عز الدین و تښتید. آمد او رونیك کلاوې هم ونیول شوې او تیمور بیرته را و ګرځید او مخ په ګرجستان ورغی او تفلیس یې ونیو او هلته یې ډیر قتل او لوټ وکړ. تیمور د ګرجستان پاچا باکرات ونیو او مسلمان یې کړ. وروسته یې بیا اصفهان ونیو، هلته ډیر خلك ووژل شول او د اویا زرو خلکو له سرونو څخه یې څلي جوړ کړل او په ۱۳۹۵ کې یې د ایران ټول حکومت خپل زوی میرانشاه ته ورکړ، له دې وروسته ایران مخ په نژدې ختیځ باندې د تیمور د لښکر کمبلو یوه لاره جوړه شوه.

Scanned by CamScanner

## د عراق، شام او کوچنۍ آسيا نيول

امیر تیمور په ۱۳۹۳ کې عراق او دیار بکر مات کړی وو، په ۱۴۰۰ کې یې یو ځل بیا د ایران له لارې ځخه له خپل یو سل زریز لښکر سره مخ په نږدې ختیځ ورغی او په دمشق کې یې مصري مدافع لښکر مات کړ او د تیمور لښکر د دمشق ټوله شتمني لوټ کړه او بای یې ټول ښارو سوځاو چې زیات زیانونه یې واړول. کله یې چې شامات ونیو، بغداد ته راغی او هغه ښار یې د عراق د پاچا سلطان احمد جلایر له عمالو ځخه ونیو (دا مهال هغه عثماني سلطان ته پنا وړی وه) او د هغه ټول عمال (مامورین) یې ووژل او بغداد یې لوټ او بیا وسوځاو. په بغداد کې نوي زره تنه خلک ووژل شول او د سرونو ۱۲۰ ځلي جوړ شول، د ښار ګڼ شمیر ودانۍ او د ښار دیوالونه ونړول شول. په دې توګه بغداد وروسته د هلاکو له یرغل ځخه یو ځل بیا له منځه یووړل شو. تیمور خپل لښکر ته امر کړی و، چې د بغدادیانو د هر یو او سیدونکی سر دې پرې او دده دربار ته دې راوړي، یوازې روحانیون او مذهبي علما ژوندي پاتې شول، دا ځکه چې هغوی لا پخوا د تیمور دربار ته راغلي او هلته پټ شوي وو، همدارنګه جوماتونه، مدرسې او خانقاوې هم روغې پاتې شوې، دا ځکه چې په عمومي توګه تیمور د هغو له ورانولو ډډه کوله، په داسې یو مهال کې چې د (ممالیك مصر) او (عثماني) دوه ډیر ځواکمن دولتونه په کوچنۍ آسیا کې موجود وو، خو دواړو له شام ځخه تر سیواس پورې خپل یو شمیر ښارونه له لاسه ورکړل. په سیواس ښار کې څوارلس زره تنه ارمنیان ژوندي وسوځول شول او د روم زر تنه سرتیري ژندی خښ کړل شول او په دا بل کال یې د حلب ښار ټول ویجاړ کړل شو.

په دغه مهال کې عثماني دولت یوازنی ځواکمن دولت و چې د اروپايي هېوادونو د مذهبي تعصباتو او نظامي یرغلونو په وړاندې کلك ولاړ و. ددغه هېواد په وړاندې د وروستي ځل لپاره فرانسه، مجارستان، انګریزان، هالند او پروس په صلیبي جګړه کې سره یو ځای ول او یو سل زریز لښکر یې جوړ کړ او تر دانیوب پورې مخکې لاړل، خو عثماني پاچا سلطان بایزید یلدم له خپلو شپیته زره لښکر سره د هغوی په وړاندې ودرید او صلیبي لښکرو ته یې ماتې ورکړه او یو څه یې ور ځخه بندیان کړل او لس زره یې ورته د جګړې پر ډګر ووژل او له دښمن ځخه یې دوسوه زره سره زر د تاوان په توګه واخیستل، له دې پرته د ختیز روم امپراتور امانوئل دغه سلطان ته باج ورکاو او د قسطنطنیې په ښار کې یې د اسلامي اذان غږ، جومات جوړول او محاکمو کې یې د مسلمانو قاضیانو غړیتوب هم منلی و، دا ځکه چې د عثماني دولت واك آن د قسطنطنیې د ښار تر ځنډو پورې ور رسیدلی و او یلدرم په آسیا او بالکان کې یو شمیر سیمې نیولې وې چې د وینس او جینوا ښارونو د هغه ځواك او اوچتوالی منلی و. سلطان یلدرم غوښتل د قسطنطنیې په نیولو سره د ځمکې په دریو لویو وچو (آسیا، افریقا او اروپا) کې اسلامي خلافت جوړ کړي، خو هغه لا قسطنطنیه نه وه نیولې چې امیر تیمور ګورګان په ۱۴۰۲ کې له خپل یو لك او شپیته زره لښکر سره ددغه سلطان د واکمنۍ پر لورې ور روان شو. بهانه یې دا وه چې سلطان د امیر تیمور یو تن دښمن ته پنا ورکړی وه. له دې پرته د آذربایجان د ایالت د واك او ددغې سیمې د مالیاتو پر سر هم د دوی ترمنځ سیالی وه. سلطان یلدرم هم له ۱۲۰ زره لښکر سره دفاع ته ودرید. د دواړو غاړو

Scanned by CamScanner

سنګرونه د انکورې په سیمه کې جوړ شول چې پنځلس میله غځېدلي وو چې د غه دواړه لوی او سوبمن لښکر یو بل سره و نښتل، خو عثماني لښکر د منځني آسیا د دغه سپاره لوی لښکر په وړاندې ماتې وخوړه او له منځه ولاړل، عثماني سلطان د دښمن په لاس کې ولوید. سره له دې چې یلدرم په درناوی سره د بندي په توګه بوتلل شو او تیمور د هغه ښځه او نږور او د هغه دوه لورګاني او نیول شوی (موسی چلپي) ور سره یو ځای پرېښودل، خو دوه نور زامن یې یعنی مسلمان چلپي او عیسی چلپي و تښتېدل، نو ځکه یلدرم دغه ډول سپکاوی او ماتې نه شوه هیرولای، نو له همدې امله چې د یوه درانه بندي په توګه د تیمور له لښکر سره یو ځای روان و، د همدې لارې په ترخ کې په (آق شهر) کې ومړ، تیمور د سلطان یلدرم پاتې کسان ونازول او موسی چلپي ته یې اجازه ورکړه چې د خپل پلار مړی یوسي او خښ یې کړي، خو عثماني واکمني یې د عثماني دولت ځخه مخکې واکمنو کورنۍ ته وسپارله. سره له دې چې عثماني دولت څو کاله وروسته بیا نیول شوې سیمې بیرته ونیولې او قسطنطینه او بالکان یې بیرته ونیول او د ځمکې په دریو وچو باندې یې بیا یوه امپراتوري جوړه کړه.

د عثماني امپراتوري ماتې په ټول ختیځ او لویدیځ کې د خلکو د اریانتیا لامل شوه او خلك له تیمور څخه په ویره کې شول، په تیره بیا د یلدرم نوم په ټوله اروپا کې خپور و. له همدې امله د انګلستان پاچا څلورم هانري او د فرانسې پاچا شپږم شارل ددغې نامتو سوبې له امله تیمور ته مبارکي او ډیر ګرانبیه سوغاتونه ولیږل او د امانوئل قیصر قسطنطینې ته ستون شو او خپل اطاعت یې تیمور ته څرګند کړ. د مصر پاچا ملك ناصر هم تیمور ته خپل اطاعت څرګند او سوغاتونه یې ور ولیږل او د تیمور په نوم یې خطبې ویلو ته اجازه ورکړه او د کاستیل پاچا دریېم هانري هم په سمرقند کې خپل استازی تیمور ته ور وپیژاند، دغې پیښې ختیز روم او قسطنطینې ته پنځوس کاله نور هم ژغورنه ورکړه. کله چې تیمور په بایزید باندې بری و موند، د عثماني دولت پلازمینه انکوره او بروصه یې له ازمیر سره یو ځای د عیسوي لښکر له منګولو وژغورل، خو پرته له دې چې اروپا ته ور ننوځي بیرته آذربایجان ته را وګرځید، په ۱۴۰۴ کال کې یې بیا ګرجستان ونیو او په خپله سمرقند ته راغی. همدا مهال یې د امیر زاده ګانو د واده په خاطر جشن جوړ کړ او د شلو بیلا بیلو هېوادونو سفیر انو د هغه په پرتمین دربار کې ګډون وکړ، خو امیر ته یو ځل بیا د خپل ځوان لمسي محمد سلطان میرزا مرګ ور په یاد شو او یو ځل بیا یې هم ووژل.

## د هندوستان نیول

په ۱۳۹۷ کې تیمور خپل لمسي پیر محمد مرزا ته امر وکړ چې له غزنین څخه روان او له سند څخه پورې وځي او ملتان ونیسي. هغه له خپلو لښکرو سره (اوچه) ونیوله او بیا ملتان ته واوښت، هلته د افغانستان حاکم سارنګ له دفاع سره مخامخ شو او د ملتان د خلکو د شتمنۍ په لوټ بوخت شو، دغه اخ و ډب څو میاشتې روان و، تر څو چې امیر تیمور د ۱۳۹۸ کال په پیل کې د افغانستان له لارې تیر شو او له سند څخه پورې وت، ده د لارې په ترخ کې ډیر خلك ولوټل او له هغوی څخه یې غله او پیسې تر

Scanned by CamScanner

لاسه او ډیر نور یې ووژل ده خپل لښکر ته بشپړ واك ورکړ چې هر څه وکړي.
تیمور په پیل کې په (دامن کوه) کې هندي پوله ساتونکی له منځه یووړل او بیا یې د (تلنبه) ښار چې د چناب او جمو د سیندونو د یو ځای کیدو په سیمه کې و .لوټ او وګړي یې ووژل او هغه غله چې دوی نشوه وړای هغه یې ټوله وسوځوله. تیمور د شهنواز په سیمه کې پیر محمد د افغانانو له کلابندۍ څخه وژغوره، خو افغانانو د (بتهیز) په کلا کې په میړانه دفاع وکړه او بهادر خان خلجي ښه په نره جګړه ور سره وکړه، نو ځکه یې هغه ته د روغی- جوړې وړاندیز وکړ، بهادرخان ورباندې باور وکړ خو تیمور هغه د کتنې د غونډې په ترخ کې وواژه او له دې سره یو ځای یې د ټولو خلکو د وژنې امر وکړ.
کله چې د بهار خان زامنو د تیمور دغه خیانت ولید، نو د یوه نامتو امیر دغه نامردده حرکت څخه ډیر خپه شول او له خپل ژوند څخه یې لاسونه و مینځل. لومړی یې خپلې ښځې او ماشومان د کلا دننه ووژل او بیا یې تورې ته لاس کړ او پر تیمور یې یرغل وکړ. خو ټول په جګړه کې ووژل شول، تیمور کلا ونیوله او ډیلي ته ورسید.
هندیانو به له ویرې لارې پرېښودې او تښتیدل به، خو تیمور په هغوی پسې و، ډیر یې ووژل او ډیر یې نیول تر څو چې په خپله ډیلي ته ورسید نو تر هغه ځایه پورې یې سل زره تنه ځان سره بندیان کړي وو، نور له هغه څخه وړاندې هیڅا د تیمور په وړاندې جګړه و نه کړه، دا ځکه چې د هندوستان په فساد اخته دولت نور څه نه و پریښې او ټوله سیمه د ملوك الطوایفي د جګړو په اور کې سوځیدله. سلطان محمود تغلقشاه او سپهسالار ملوخان له لس زره سپرو او ۲۵ زره پلیو سرتیرو او ۱۲۷ پیلانو سره له دښمن سره دجګړې لپاره له ډیلي څخه را ووتل، تیمور د هغوی د سترګو د سوځولو (ویرولو) په خاطر امر وکړ چې سل زره هغه مسلمان او هندو بندیان چې ورسره دي له ټولو دې سرونه پرې شي. همداسې وشول او جګړه پیل شوه، د هندوستان لښکر له ماتې سره مخامخ شو، د هندوستان پاچا ښار تته ور وګرځید او د ښار په کلا کې کلابند شو، خو د شپې ووت مخ په کجرات ولاړ او سپهسالار هم د برن خواته ولاړ، په دې توګه تیمور په ډیر بریالیتوب ډیلي ته ننوت. او هلته د شرابو په مجلس کې کیناست او مولانا نصر الدین عمر په جامع جومات کې د هغه په نوم خطبه لوستل پیل کړل او هغه یې (امیر صاحب قران) وستایه، جلال السلام هم و د ښار په دروازه کې کیناست او د ښآر له خلکو یې د (امان پیسې) په ټولولو پیل وکړ، وروسته بیا د تیمور پنځلس زره لښکر په ښار کې خپور شو او له خلکو څخه د غلې او قند (شکرې) په ټولولو بوخت شو، درې شپې او درې روځې یې خلك ووژل او لوټ یې وکړ او ډیر خلك یې د مریيانو په توګه ونیول، آن دا چې د ډیلي د ژوبڼ ژوي یې هم تر لاسه کړل، وروسته بیا تیمور امر وکړ چې د بندیانو په منځ کې د صنعت کاران او پیشه وران له نورو بندیانو څخه جلا کړل شي او هغوی یې تیموري شهزاده ګانو باندې وویشل او هر یو یې خپلو خپلو اړوندو سیمو ته بوتلل، خو ډېری کیندونکي یې په خپله امیر ته وسپارل او هغه سمرقند ته ولیږل چې هلته یو جومات ور باندې جوړ کړي. دغه کړنلاره د نوی او زاړه ډیلي په دریواړو ښارونو کې پرمخ بوتلل شوه او د لښکر هر سرتیری ته له ۲۰ څخه تر سل زرو پورې بنده او مریيان ورسیدل، په دې توګه د هغوی لیږدول یو ستونزمن کار و.

Scanned by CamScanner

تیمور پنځلس ورځې په ډیلي کې استراحت وکړ او بیا بیرته مخ په افغانستان راغی، په لاره کې یې میرت کلا، د کنګ د سیند غاړې، د سوالك غرونه او جمو لوټ او ډیر خلك یې ووژل له دې ځخه وروسته تیمور د کابل، خلم او جیحون له لارو ځخه را تیر او سمرقند ته لاړ.

## د تیمور یرغل او د افغانستان د خلکو مبارزه

تیمور د ځواني پر مهال له ماورالنهر ځخه وروسته افغانستان ته ډیرې سترګې نیولې وې، هغه څو ځله له جیحون ځخه را تیر او په بلخ، بدخشان، کابل، کندهار او سیستان باندې و ګرځید. لکه چې هغه د خپل امارت اعلان وکړ، نو هغه مهال هم په افغانستان کې و او لومړی یې همدلته ویجاړول پیل کړل او د هندوانو کلا یې له خاورو سره خاورې کړه. له هغه وروسته بیرته ماورالنهر ته ور وګرځید، یوولس کاله وروسته بیا ورته افغانستان ته د ور ګرځیدو وخت برابر شو او په ۱۳۸۰ کې له جیحون ځخه را تیر شو. دا مهال په افغانستان کې ملك فخر الدین کرت چې د سرخس واکمن حاکم و د تیمور مخې ته ور ووت، تیمور هغه ځان سره کړ او د هرات له نیولو وروسته یې د غور په حکومت و ګوماره، دا هماغه سړی و چې وروسته د تیمور په ضد پاځید او د هغه د لښکر ډیر خلك یې ور ووژل. د ۱۳۸۱ کال په لومړیو کې تیمور لمړی په پوشنګ یرغل وکړ، خو خلکو کلکه دفاع وکړه او یوه اونۍ یې د تیمور په وړاندې مقاومت وکړ، ددغو جګړو په ترڅ کې امیر تیمور دوه ځله د پوشنګیانو په غشیو ټپي شو.

تیمور تر یوې اونۍ وروسته د پوشنګ کلا ونیوله او هغه یې رنګه کړ او خلکو ته یې کلکه سزا ورکړه.

کله چې تیمور پوشنګ ونیو هرات ته راغی، خو د کرت پاچا ملك غیاث الدین پیر علي سره له دې چې زوی یې د تیموري کورنۍ زوم هم و، ښار وتاړه او په دفاع یې پیل وکړ. جګړه څلورو ورځو ته ورسیده، ترڅو چې د سولې خبرې پیل شوې، په پایله کې غیاث الدین د باج ورکول و منل او د تیمور دربار ته ورغی او د څه مودې لپاره په خپل حکومت کې پاتې شو، خو تیمور امر وکړ چې د هرات د کلا دننه او بهر ټول دیوالونه دې ونړول شي او د ښار هغه و سپنیزې دروازې چې په هغو باندې د کرت د پاچاهانو نومونه او لقبونه لیکل شوی و او په سپینو زرو سینګار وو، له بیخه ونړوي او هغه یې ټولې شهر سبز ته یووړې.

تیمور له هرات ځخه نیشاپور ته روان شو او امیر علي موید د نیشاپور د سربداري واکمن چې د تیمور له ۵۰ زریز لښکر سره د جګړې توان نه درلود، تسلیم شو. تیمور له نیشاپور ځخه اسفزاین ته ولاړ او د اسفزاین د کلا دیوالونه او برجونه یې ونړول، وروسته بیا د کلات کلکې کلاته لاړ، هغه کلا یې د کلات حاکم علي بیګ ځخه وروسته تر کلا بندۍ او جګړې ځخه ونیوله او له هغه ځایه ترشیز ته ولاړ. د ترشیز حاکم امیر علي سدید غوري کلا پرته له جګړې ور پریښوده، نو امیر تیمور د ایران د مازندران په لوري روان شو، امیر تیمور وروسته تر څو مودې د ایران له شمال ځخه را ستون شو، خو د لارې په ترڅ کې یې د هرات د کرت حکمرانانو کورنۍ د بندیانو په بڼه سمرقند ته واستولې، په دې توګه د هرات ښار هم تیموري نظامیانو او افسرانو ته وسپارل شو او د تیمور زوی مرانشاه په مرغاب کې قرار ګاه جوړه کړه،

Scanned by CamScanner

د غور حاکم ملك محمد کرت د تیمور له دغه چلند څخه اغیزمن شو نو ځکه یې د تیمور په وړاندې د غوریانو د پاڅون ملاتړ وکړ او هرات ته یې هم عسکر ولیږل او ښار یې په زور ونیو او د هرات د ارګ ساتونکی او نور تیموري عسکر چې په لاس ورغلل هغه یې ټول ووژل، میرانشاه په بیړه د مرغاب له غاړې هرات ته لښکر واستول، نو له دې امله چې ښار نه دیوال درلود او نه دروازه نو ډیر ژر یې ونیو او د هرات ډیر خلك یې ووژل. په دا ځل یرغل کې د تیمور لښکریانو د هرات د خلکو له سرونو څخه ځلي جوړ کړل.

په ۱۳۸۲ کال کې تیمور د هرات او غور د پاڅونونو د پیل کولو له خبریدو څخه وروسته غیاث الدین کرت، د هغه ورور محمد او د هغه کوچنی زوی امیر غوري چې له ده سره بندیان وو دریواړه اعدام کړل او په خپله بیرته بیا هرات ته راغی او د ټول ښار د ورانولو امر یې وکړ، خو دا ځل اهل فتوا او اهل تقوی خلکو هغه پرې نښود چې دا ښار یو ځل بیا لکه د چنګیز د مهال په شان له منځه ولاړ شي، خو د هغه د ساتلو لپاره یې تیمور ته د نقدو پیسو د ورکولو بار په ځان و مانه، خو تیمور دومره غټ غرامات غوښت چې د هرات خلکو دغه بار په اوږه نشو اخیستلای، نو ځکه د تیمور حواله دارانو او ماسلانو د خلکو په ربړولو پیل وکړ چې ډیر خلك ددغو کړاوونو له امله ووژل شول. آن دا چې تاریخ لیکونکی میر خواند لیکلی چې په ټول هرات کې یوه هتۍ هم پرانیستې پاتې نه شوه په کوڅو او بازارونو کې مړي یو پر بل باندې پراته وو.

په همداسې یو مهال کې د اسفزار خلکو د شیخ داود په مشرتوب د تیمور په ضد پاڅون وکړ، خو تیمور ډیر ژر خپل لښکر ور ولیږ او دغه پاڅون یې داسې وځاپه چې د هرات ناورین د ټولو هیر شو. د اسفزار کلا (بدر آباد) د تیمور د لښکر تر پښو لاندې لتاړ شوه او په لارو - کوڅو کې یې د هرات په شان مړي یو پر بل پریوتل. له دې پرته تیمور دا امر هم وکړ چې د ختویو دیوال دې جوړ شي خو د خښتو پرځای دې ژوندي بنیادمان کیښودل شي، همداسې وشول او ددغه ځلي په جوړولو کې دوزره انسانان ژوندي په کار ولاړل.

امیر تیمور له هرات څخه مخ په فراه روان شو. د فراه سیمه ییز امیر ملك جلال الدین تسلیم شو او ژوندی پاتې شو، تیمور له فراه څخه د (زره) کلا په لوري روان شو، خو خلك چې نه تسلمیدل د لښکر مخې ته ورغلل، خو ډیر یې ووژل شول. امیر تیمور د زره له کلا څخه د سیستان (جلال آباد) په لوري روان شو. د ښار نامتو مخورو او اشرافو لکه شاه شاهان سیستاني او تاج قلعه کهي او سراج او نور د تیمور لښکر ته ورغلل او ورته تسلیم شول، خو د سیستان خلکو او د ښار اوسیدونکو په دفاع لاس پورې کړ. د سیستان سیمه ییز حاکم ملك قطب الدین لا دا مهال له خلکو سره په دفاع کې ولاړ و، جګړه پیل شوه، د ښار خلك به د شپې له خوا بهر وتل او د دښمن په لښکر به یې یرغلونه کول او بیرته به ښار ته راتلل، خو په پای کې ملك قطب الدین هم د تیمور لښکر ته تسلیم شو. دا مهال تیمور پر آس سپور و او خپل لښکر یې معاینه کاو چې یو ناڅاپه د ښار دروازه پرانیستل شوه او په زرګونو خلك را ووتل او د تیمور د لښکر د عسکرو په وژلو یې پیل وکړ او هغوی یې د غشو تر ګوزارونو لاندې ونیول. په دغه

Scanned by CamScanner

کلکه جګړه کې بیا تیمور په خپل ورون باندې ټپي شو. خو بیا هم د هغه لښکر عسکرو ښاریان بیرته ښار ته ننوتلو ته اړ کړل او ښار یې هم ونیو. تیمور امر وکړ چې لومړی دې د ټولو خلکو شتمني له سرو زرو نیولې تر پوزي او لیمخي پورې واخیستل شي. بیا یې ټول دیوالونه. کورونه او ودانۍ ونړولې او ډیر خلک یې هم ووژل. په پای کې امیر تیمور د سیستان سیمه ییز حاکم امیر قطب الدین په بندي ډول سمرقند ته ولیږداو او د ښار تسلیم شوي اشراف یې د فراه کلا ته ولیږل او د هغه ویجاړ شوي ښار حکومت یې شاه شاهان سیستاني ته ورکړ.

امیر تیمور له هغه وروسته په ۱۳۸۳ کال کې په سیستان کې خپله یوه ډیره لویه تاریخي ویجاړتیا ته ملاوتړ له او د زرنج له ښار څخه یو منزل پورته د رستیم بند یې په وحشیانه ډول ونړاو چې یوه یوه نړی یې برباد کړه. دغه نامتو بند چې د هلمند له سیند څخه کانالونه ورغلی وو د سیستان د سیمې د خلکو د ژوند ضمانت کاو او د هغه له برکته دلته د ختیځ تر ټولو آباده سیمه ودانه وه او سمسور ژوند پر مخ روان و چې په منځنۍ آسیا کې یو لوی اقتصادي او علمي مرکز و. کله چې دغه بند ویجاړ شو، د خلکو ژوند هم خراب شو او بست ته نورې اوبه نه رسیدلې، چې له ګرشك، څخه تر فراه او چخانسور پورې ټول کلي او کروندې له منځه ولاړل چې نن ورځ یې هم د ۲۰۰ کیلومترو په واټن خواشینوونکی کنډوالی ښکاري. زرنج ښار، پشاوران، قرنین، طاق، بست، رم، شارستان، بغنین، درتل، زروان، شووان او په سلهاوو نورو ښارونه، کلي، کلاوې او سیمې ورو ورو کنډواله او بیا تر شګو لاندې شول.

کله چې تیمور سیستان ونړاو له هغه وروسته بست او ګرمسیر ته ولاړ او هلته یې هم نړول او وژل پیل کړل او بیا کندهار ته ورغی. د کندهار یو شمیر سیمې یې ونیولې او د کندهار ښار یې د خپلو لښکرو په زور ونیو او د هغه ښار ساتونکی سردار یې په دار وځړاو. کله چې تیمور دا ټول ظلمونه وکړل، نو د کندهار حکومت یې خپل یوه خپلوان یعني امیر سیف الدین برلاس ته وسپاره او له هغه ځایه یې د بغلان او کندز (تخارستان) حکومتونه د امیر چاکو برلاس زوی امیر جهاندار شاه ته وسپارل. هغه دا مهال د بدخشان له لوري ډاډه و، ځکه چې هلته دده ملګری شاه بهاء الدین حاکم و، د کابل حاکم هم لا پخوا امیر تیمور ته ځان تسلیم کړی و. وروسته تیمور مخ په سمرقند روان شو او دومره ګړندی مزل یې وکړ چې په څوارلسو ورځو کې خپلې پلازمینې ته ورسید.

له دغو پیښو څخه پنځه کاله وروسته په ۱۳۸۸ کې د طوس خلکو بیا د یوسف خواجه او حاجي بیك تر لارښوونې لاندې پاڅونونه وکړل. امیر تیمور امر وکړ چې خوی یې میرانشاه د پاڅون کوونکو د ځپلو په خاطر ورشي. له دې امر څخه وروسته لومړی میرانشاه په سمرقند کې ملك زاده پیر محمد کرت چې د تیموریانو زوم و او د پلار له وژلو وروسته یې تیموریانو د بندي په توګه سمرقند ته بیولي و، هلته یې وواژه او د هغه دوه زامن یې هم ووژل، وروسته بیا خپله له یو لوی لښکر سره مخ په طوس را روان شو، لس زره تنه یې ووژل او ټول طوس یې ونړاو او په پای کې پاڅون و ځپل شو. میرانشاه په طوس کې ډیر ظلمونه وکړل او د ناموس لرونکو له کورنیو څخه لوګی پورته کړل او په پای کې یې ددغې کنډوالې حکومت بایزید ته ورکړ. میرانشاه وروسته له دې څخه د افغانستان د شمال او شمال غربي ولایتونو د

Scanned by CamScanner

حکومت د مشر په توګه د تیمور له خوا تر ۱۳۹۵ پورې نوماندو، خو وروسته له دغه کال څخه ورته د ایران حکومت ورکړل شو. په ۱۳۹۲ کې د افغانستان حکومت د تیمور یوه لایق ځوی (شهرخ میرزا) ته وسپارل شو. په همدې حال کې له کابل څخه نیولې تر زابل او د سیند تر غاړو پورې له ۱۳۹۱ کال څخه را دې خوا میرزا پیر محمد د تیمور لمسی او ولیعهد حاکم و.

په ۱۳۹۷ کال کې تیمور د هندوستان د نیولو په نیت د افغانستان شمالي ولایتونو ته ورننوت او د هندوکش په لمنو کې تر اندراب پورې ورسید. دلته یې واورېدل چې د کتور او سیدونکی توري جامې اغوستونکی خلك شاوخوا سیمو باندې یرغل کوي او بیا بیرته په غرنیو سیمو کې خپلو کورونو ته ورګرځي چې د هغوی د اوسیدلو سیمو ته هیڅ څوك نشي ورتلای. امیر تیمور د شمال له لوري د خاواك له غاښې څخه تیر شو او د پنجشیر د درې له پورته څنډو څخه د کتور او بلورستان (اوسني نورستان) سیمو ته ورغی. له دې امله چې لارې او پیچومی ډیر سخت وو، نو ځکه اړ شو چې په یوه توکرۍ کې کینی او له واورو ډکو غرنیو لمنو څخه ځان را وښیوي او بیا یې وروسته د هغه آس هم را کوز کړ بیا یې لس زریز لښکر (لکه خپله ده چې ویلي دي) شمال لوري ته د نورستان درې ته واستاو. داسې ښکاري چې په دغه ژمني سفر کې دده مفرزی کوم بریالیتوب تر لاسه نه کړ، بلکې له منځه ولاړل. په هر حال تیمور دا دعوا وکړه چې هغه ځای یې ونیو او هلته یې په یوه ډبره باندې لیکنه وکړه او دکتور په دره کې یې یادګار پرېښود. تیمور چې ددغه سفر غټ خطرونه ولیدل ډیر ژر بیرته د خاواك له لارې کابل ته راستون شو، له دې ځایه بیا د شرقي ولایتونو له لارې مخ په هندوستان روان شو، تیمور د خپل دغه سفر په لاره کې د (ایزیاب) په نوم یوې کلا ته ورسید چې هلته پښتانه اوسیدل. د کلا کلکوالی بې خوبن شو او هغه یې ښه پوره جوړه کړه او د هغې په خوا کې یې واړول کله چې په څوارلسو ورځو کې کلا ښه جوړه شوه، نو یوه ورځ د کلا شاوخوا ګرځید او سیل یې کاو، د کلا شاته یوه دوه پوړیز کور د دغه کور له کړکۍ څخه یو زړور سړی غشي او لیندۍ سره را ځرګند شو، تیمور یې په نښه کړ او غشي یې وویشت خو د غشي له غږ څخه آس و ترهید، ټوپ یې کړ او غشي د تیمور له اړخه سره خطاوت او تیمور ژوندی پاتې شو. تیمور ډیر ژر د کلا له بلې دروازې څخه کلاته ننوت. هلته یې امر وکړ چې د هغې کلا حاکم موسی خان او د هغه دوه سوه کلیوال ټول ونیسي، خو په خپله لومړنی غشي ویشتونکی له نورو شپږو تنو سره په بالاخانه کې پاتې شول او په غشي ویشتلو سره یې جګړې ته دوام ورکړ او یو شمیر تیموریان یې ټپیان کړل. دا مهال یو سیستاني چې (کله کې) نومید ور ننوت او هغوی یې ونیول او تیمور ته یې راوستل، تیمور په هماغه ورځ دوی ټول له موسی خان سره یو ځای ووژل، له هغه څخه وروسته تیمور په ۱۳۹۸ کال کې له سند څخه پورې وت او منځنۍ هند یې ونیو او بیرته افغانستان ته را ستون شو او بیا د کابل او خلم له لارې څخه تیر او په جیحون پورې وت او ماورالنهر ته ورغی.

امیر تیمور یو ځل بیا هم له ایران څخه افغانستان ته راغی، د نیشاپور او مرغاب په لاره تیر شو او بیا د ترمذ په سیمه کې له جیحون څخه پورې وت او شهر سبز ته ولاړ او بیا سمرقند ته لاړ (دا ۱۴۰۴) کال و. په دې مهال کې امیرزاده سیدي محمد بن عمر شیخ د کندهار حاکم او امیرزاده پیر محمد د غزني او زابلستان حاکم و او شهرخ مرزا د افغانستان د شمالي ولایتونو حاکم و.

Scanned by CamScanner

## د تیمور مړینه

تیمور په ۱۴۰۴ کال کې په سمرقند کې په دې فکر کې شو چې په چین باندې یو مذهبي یرغل وکړي، نو د همدې کال په ژمي کې یې ډېر په بیړه د لښکر د چمتو کولو امر وکړ. هغه په یوه ډېره خرابه هوا کې له دوه سوه زرو عسکرو سره مخ په چین ورغی. له لښکر سره یې څو زره شیدي ورکوونکې اوښانې هم یو ځای کړې چې لښکر ته خوراك برابروي. تیمور د مرغومي په سړه میاشت کې د سیحون د غاړې د اترار سیمې ته ورسید او هلته د دمې کولو لپاره تم شو. دلته تیمور ناروغ شو. قاریان یې را وغوښتل چې دده بستر ته نژدې قرآن ولولي. همدارنګه خپلو افسرانو، مامورینو او د کورنۍ غړو ته یې د صبر وصیت وکړ او په غایبانه توګه یې د کابل او زابل حاکم او خپل لمسي امیرزاده پیر محمد جهانګیر ته د سلطنت د ولایت د عهدي مقام وسپاره. تیمور د ۸۰۷ هجري (۱۴۰۴ میلادي) کال د شعبان په میاشت کې و مړ او د چین هېواد له یوې لویې بلا څخه خلاصون ومونډ.

## د تیمور پر مهال اداره

تیمور د خپلې اداري په قلمرو کې په خپل شخصي فکر باندې ډېره لګوله، هغه د هیڅ سلا - مشوره نه منله. په جګړه کې یې هم په خپل ځان او د کورنۍ په غړو ډېره لګوله، نو ځکه د نورو افسرانو او مامورینو لپاره د کفایت موقع نه برابریده. د خپلو ټولو مامورینو په منځ کې یې روحاني قشر او مذهبي علماوو ته درناوی کاو او د اداري چارې یې هم د هغوی لاس ته سپارلې، خو هغوی ټول د تیمور د لاس آله ګرځیدلي وو. د تیمور اولادونو هم د فقهاوو او روحانیونو په هکله همدا چلند غوره کړی و او له شهزاده ګانو وروسته د سلطنت نورو وروستیو تیموریانو هم همدا لار نیولې وه، خو په سیاست کې یې له هغوی څخه کوم خیر و نه لید، تیمور د خپل سلطنت ډېرې مهمې برخې خپلو زامنو او لمسیانو ته سپارلې او په زیاترو جګړو کې به یې همدوې مختـه کول او هر یوه ته یې غټ غټ بخششونه او سوغاتونه ورکول. دده هر یوه زوی ته به یو بخشش له دوه سوه څخه تر درې سوه پورې آسونه او له سلو زرو څخه نیولې تر څلور سوه زرو پورې نقد دینارونه وو. آن دا چې یو ځل یې په پنجاب کې امیرزاده پیر محمد ته درې زره آسونه ورکړل. د هر شهزاده سزا به د لویو جرمونو او نه ښنل کیدونکو عملونو په مقابل کې څوکې کوتك وهل و چې د (یساق کوتك) بلل کیدل او بس، خو د شهزاده پر ځای به اصلي سزا مامورینو ته ورکول کیده. د تیمور زوی میرانشاه چې کله په ایران کې واکمن و، یوه ورځ له آس څخه ولوید او د سر ماغزه یې وښوریدل، له هغه وروسته یې په عیاشي، سپکو کارونو، ظلم او په ډېر زیات اسراف کولو لاس پورې کړ چې د ښځو او نارینه وو کړیکې پورته شوې، کله چې تیمور خبر شو او څیړنه یې وکړه، نو د شهزاده جنایتونه بربنډ شول، نو امر یې وکړ چې د شهزاده ګناه د هغه د مجلسیانو په غاړه ده، امر یې وکړ چې مولانا محمد کاخکي، استاد قطب الدین نائي، حبیب عودي او عبدالمومن سندر بول یې ټول د هغوی له ملګرو سره یو ځای ووژل حال دا چې مولانا یواځې د جماعت لمونځ ورکاو او نور یې د دربار سازیان وو چې په هیڅ یوه کار یې کار نه درلود، خو کله چې په خپله شهزاده د خپل

Scanned by CamScanner

پلار حضور ته ورغی تیمور هغه په ډېره مینه په غېږ کې ونیو.

کله چې امیرزاده پیر محمد په شیراز کې و یو څه زهر یې جوړ کړل چې تیمور خبر شو، نو امر یې وکړ چې د هغه مامورین هر یو لکه خلیفه سید جراح، رستم خراساني، مبارك خواجه، محب شربت دار او شیخ فرید لومړی بندیان او بیا دې ووژني، د شهزاده د مستوفي لاس او پښې یې ور پرې کړل، خو شهزاده ته څو کوتکو نه ورکړل شول او خوشي شو. د دمشق په جګړه کې چې کله د تیمور لښکر د دښمن د لښکر په وړاندې جګړې ته چمتو شو میرزا سلطان حسین د تیمور له لښکر څخه و تښتید او د دښمن پلو واوښت چې وروسته یې بیا د دښمن د لښکر د کیڼ لاس د ځواکونو د قوماندان په توګه د تیمور په وړاندې توري ته لاس یووړ، خو کله چې ونیول شو یواځې د یساق په کوتك ووهل شو او بیرته خوشي شو، په دې توګه هر شهزاده د خپلې پاچاهي په وربوی کې یو مطلق العنان کوچنی پاچا ګڼل کید چې پرته له امیر تیمور څخه نور هیڅ څوك او هیڅ شي د هغوی مخه نشوه نیولای، تیمور لویو فقهاوو ته معاشونه او اقطاع ورکول نو هغوی د تیمور په خوښې فتوا ګانې ورکولې او ځینې وخت به یې اصلي شرع په قلیل ثمن پلورله او تیمور به ورته ښه ژوند برابر او. د هغه دربار د سید، ملا خواجه او شیخانو لپاره یوه ډکه او آرامه ځاله وه. مولانا عبید الله د اوقافوریس و، خواجه محمود شهاب، جلال الاسلام، خواجه یحیٰی، خواجه علی، خواجه مسعود سمناني او خواجه سیف الدین توني د تیمور د دولت وزیران وو، مولانا عبد الله کشي د مصر په دربار کې د امیر تیمور سفیر و چې په ۱۴۰۴ کې یې د تیمور لیك ځان سره اخیستی و او دا هغه لیك و چې اویا ګزه یې اوږدوالی او درې ګزه یې سور و. دغه لویه پرېړاڼ تبریزي شیخ محمد په ښکلی لیك د سروزرو په اوبو لیکل شوی وه.

تیمور په ۱۴۰۲ کې د ایران د چارو د ښه سمون په خاطر دوه دوه تنه شیخان د شاهي تفتیشانو په توګه وګومارل، په دوی کې یو قطب الدین قزومي صدر و چې د شیراز ولایت ته ګومارل شوی و، کله چې دغه شیخ هلته ورسید، هغه د خپل ماموریت له سیمې څخه درې سوه زره کپکی دینارونه له رعیت او پیشه ورانو څخه د رشوت په بڼه را ټول کړل، او د هغه بل سیال مولانا صاعد د هغه ددغه کار رپوټ د شیخ درویش الهیٰ په لاس تیمور ته ولیږ، سره له دې چې تیمور د رشوت پیسې بیرته خلکو ته ورکړې، خو مولانا یې لکه د شهزادګانو په شان له سزا څخه معاف کړ.

دغه شمیر مولویان او مشایخ به هم د لښکر او هم د حضر پر مهال له تیمور سره وو، کله چې تیمور په ۱۳۹۰ کې د قبچاق د دولت د نړولو لپاره لښکر وروست او هلته یې د دښمن یو ډېر لوی شمیر لښکر ولید، له آس څخه را کوز شو تندی یې پر ځمکه کېښود او له خدای څخه یې ددغو زیاتو انسانانو د وژنې توفیق وغوښت، په تیمور پسې وروسته دغه درباري شیخان هم کوز شول خپلې خولې یې لرې کړې او د خدای دربار ته یې لاسونه اوچت کړل او له تیمور سره یو ځای یې په زاریو پیل وکړ. همدارنګه کله چې تیمور په ۱۳۹۸ کال کې کله چې د هندوستان د نیولو په خاطر د پیروز آباد په دښته کې پلازمینې ډیلي ته نژدې خپل لښکریان سمبالول، د دښمن د سترګې د سوځولو لپاره یې خپلو سرتیرو ته امر وکړ چې هغه سل زره تنه هندوستاني بندیان ټول ووژني چې دا مهال مولانا ناصر الدین عمر چې پر

ټول ژوند یې چرګ هم نه حلال کړی، را مخې ته شو متې یې بډ وهلې چاړه یې واخیسته او پنځلس تنه بې ګناه بندیان یې د پسه په شان حلال کړل، خو کله چې یرغل پیل شو او هندي یو سل او شل پیلان را مخکې شول، نو هغو کسان چې په خپل ټول ژوند کې پیلان نه وو لیدلي ډېر کلك ووېرېدل. د تیمور دې خبرې ته پام شو او له شیخانو او لویانو څخه یې وپوښتل چې نن ورځ به ستاسې ځای د لښکر په کوم اړخ کې وي؟ خواجه افضل الدین کشي او مولانا عبدالجبار خوارزمي ځواب ورکړ چې زمونږ ځای به هلته وي چې چیرې عورات (ښځې) دي (یعنی د سنګرونو څخه لرې او د جګړې له ډګر څخه بهر)، خو کله چې جګړه د تیمور په ګټه پرمخ ولاړه او ډیلي ونیول شو، نو دا مهال مولانا ناصر الدین عمر د سنګر له شا څخه را وړاندې شو او جامع منبر ته وخوت او په خپل ټول ځواك سره یې په فصاحت سره خطبه د امیر تیمور (صاحب قرآن) په نوم ولوستله، همدارنګه جلال الاسلام د ډهلي په دروازه کې کیناست او د بې ګناه او بې دفاع خلکو لوټ شویو مالونو په ټولولو یې پیل وکړ.

تیمور د خپل سلطنت پر مهال کرنې ته د خلکو د هڅونې په خاطر د مالیاتو او د هغو د را ټولو په برخه کې یو شمیر مقررات جوړ کړل او یو څه مالیات یې کم هم کړل، آن دا چې په ۱۳۹۵ کال کې یې یو ځل د سمرقند د خلکو درې کلن مالیات ور وبښتل. هر چا به چې شاړه ځمکه آباده کړه د هغه سړي ملکیت بلل کید، د لومړي کال مالیه یې معاف وه د دوهم کال مالیه د ځمکې د خاوند په خوښه وه، د درېیم کال مالیات یې لکه د نورو ځمکوالو په شان اخیستل کېدل. په هغو برخو کې چې تیمور ورانی نه وکړی هلته یې ویالې وکنیدلې او د اوبو لګولو ته یې پاملرنه کړې وه. مالیات به د درمند له اخیستلو وروسته په جنسي بڼه ټولیدل او ځینې وخت به هم د ورځې له نرخ سره سم د سپینو زرو په سکو اخیستل کیدل د للمې ځمکو مالیه د آبي په پرتله لږ وه. بزګرانو د اوبو د لویو زیرمو لپاره هم مالیه ورکوله. له دې امله چې سپاهیانو د دولت له خزانې څخه په نقد ډول معاشونه اخیستل، نو ځکه له رعیت څخه د مالونو له اخیستلو څخه په کلکه منع شوي وو. عسکر د هیچا کورته پرته له اجازې نشو ننوتلای. په تیره بیا د تیمور اردو د یوه کلك نظامي نظم تر اداري لاندې و. تیمور او د هغه امیران د پوځ په وړاندې ډېر د درناوي وړ او د نمانځنې وړ و، خو بیا هم تیمور د اقطاع سیستم وساته او لویو افسرانو او امیرانو ته یې لوی لوی اقطاع ببښل. د تیمور پر مهال سوداګرۍ ښه پرمختګ وکړ، دا ځکه چې د سیمه ییزو فیوډالانو او کوچنیو خود مختاره امیرانو واك له منځه یووړل شو او په زور سره د مرکزي سلطنت واك لاندې راغلل، لارې په امن کې وې، سوداګریز کاروانونه به له ګوبي او الماليق څخه تر سمرقند او تبریز پورې، له تور سمندرګي څخه تر اسلامبول پورې او د افغانستان له شمال څخه تر اورګنج او بیا د خزر له سمندرګي څخه تر روسیې پورې تلل راتلل. همدارنګه تجارتي کاروانونه به له افغانستان څخه د خیبر له لارې تر هندوستان پورې په ډاډ سره تلل را تلل. د سمندر او سیندونو له طریقه سوداګرۍ ډېره نه وه رواج، نو ځکه د ایران لاره له جنوب څخه مخ په هندوستان وه او همداسې هم چنیائیانو او عربانو هم د هند سمندر تر غاړو تګ راتګ کاو. له دې پرته د سیحون، جیحون، د جلې او فرات سیندونه هم د سوداګریزو بیړیو ښې لارې وې. دا مهال سمرقند او هرات او تبریز له روم او وینز څخه هم لوی لوی

Scanned by CamScanner

ښارونه وو (البته د چین ښارونه تر ټولو لوی وو چې سل میلیونه خلك په چین کې اوسیدل) دا مهال د ټولې نړۍ نفوس شپږ سوه میلیونه اټکل کید. د سمرقند په ارګ کې ۱۵۰ زره تنه اوسیدل خو ټول ښار بیا له دې څخه زیات نفوس درلود. په هرات کې له ۲۵۰ زرو تنو څخه زیات او په تبریز کې له دغو دواړو ښارونو څخه زیات وګړي اوسیدل. که په ښار کې په کومه غلا وشوه، تاوان یې د قاضي او د ښار د مشر په غاړه و او غل به چې هر چیرې ونیول شو سم له لاسه به غرغره کید. سوداګرو په دوه بڼو مالیات ورکول: یو ډول یې د سوداګریزو مالونو له بابته وو او بل ډول مالیات د سوداګریزو لارو له بابته. سره له دې ټولو د تیمور اداره کوچنیو مالکینو او سوداګرو ته ګټوره وه، دا ځکه چې دغه دولت پرته له تاکلو مالیاتو څخه چې په خپله یې اخیستل، خپل عسکر او افسر د خلکو د مالونو اخیستو ته نه پرېښودل او هیچا په سوداګرو او کوچنیو مالکینو ظلم نشو کولای.

همدا مهال ورځ په ورځ د نړۍ زړې لارې په نویو لارو بدلیدلې. وروسته تر ۱۴۰۵ پرتګالیانو او بیا انګریزانو سمندر ګرځیدو باندې پیل وکړ او په دې توګه د وچې د لارو ځای سمندري لارو ونیو او د پخوانی د وریښمو لارې ارزښت کم شو، نو په دې توګه د افغانستان او منځنۍ آسیا اهمیت کم او دوی د نړۍ له سوداګرۍ څخه ګوښه شول، په تیره بیا هغه مهال کله چې (واسکو دا ګاما) هندوستان او کریستف کولمب د امریکا وچې د سمندر له لارې لویدیزې نړۍ ته ور وپیژندلې او دغه وچې یې د سمندر له لارې خپلو هېوادونو بهره و نښلولې. دغې پیښې له اقتصادي پلوه افغانستان ته یو ډیر لوی او بد ګوزار ورکړ چې زیان یې لکه د چنګیز د وحشیانه یرغل په شان بل مثال زمونږ په تاریخ کې نه لري بلکه ډیر ناوړه پیښه چې دغه زیانونه یې نور هم بشپړ کړل، هغه د انګریز د امپراتوري یرغل او ظلمونه وو چې په نولسمه پیړۍ کې یې تر سره کړل او تر اوسه پورې افغانستان له سمندري دروازو څخه بې برخې او په وچه کې ایسار پاتې شو. د افغانستان د پاچاهانو نالایقي او بې کفایتي هم په دې برخه کې رول درلود چې دوی د افغانستان له خپلواکي او ازادي تیر او هېواد یې په یوه وسپنیزه کړۍ کې راګیر او له بشري ګړندیو پرمختګونو بې برخې او په یوه ایسار شوې هېواد یې بدل کړ او دغه مخکنۍ بدمرغه پیښې یې د هغو لوړو پوړیو ته ورسولې. همدا لامل و چې افغانستان دوه سوه کاله د پرمختګ او ترقي له ټولو کاروانونو څخه وروسته پاتې شو.

تیمور د ودانیو، پلونو او کاروانسرایونو (پړاوونو) او جوماتونو جوړولو ته پاملرنه کوله، په تیره بیا سمرقند او شهر سبز یې په ماورالنهر کې د هرات د ختیزو په لاسونو جوړ کړل. د انار ډوله ګومبذو جوړول هم د تیمور له مهاله را پیل شول، خو له هغه مخکې په منځنۍ آسیا کې، د ودانیو ګومبذې ټولې مخروط ډوله وې. د تیموري دورې د ودانی جوړولو هنر یوازې تقلید او پیښې کول نه و، بلکې نوښت یې هم درلود. سمرقند د علماوو مرکز و ګرځید (زیاتره مذهبي علما په دغه ښار کې وو) او ګڼ شمیر صنعت کاران هلته وو، انځور ګري پرمختګ وکړ او د هرات کاشي کاري رواج شوه، له بغداد څخه شبکه یې نقره کاري او له ختن څخه بکره تیږه او شوکاني له تبریز څخه راغلل او ټول په ودانیو کې ولګول شول او د سمرقند ښار د داسې ودانیو لرونکی شو چې د کوټو دننه برخې یې ټولې د چین د

Scanned by CamScanner

انځور ګریو په بنه انځورونه لرل، وسلې جوړول هم پکې پرمخ ولاړل او دغه ښار د یوه نړیوال ښار بڼه غوره کړه چې په هغه کې مسلمانان، عیسیویان، تاجیک، ترک، عربو، ارمنیانو، افغانانو، ایرانیانو او مغلو په ګډه ژوند کاو او ګډ کارو بار یې درلود. د ډاک د ګرندي کولو لپاره ډاکیان وو چې ډاکیانو ډېر ګړندي آسونه لرل هر ډاکی به په یوه شپه په ورځ کې شل فرسنګه لار وهله. نظام شمس بغدادي چې د تیمور د دربار د منشیانو یو غړی و، د تیمور له خوا د (ظفر نامه) د کتاب په لیکلو و ګومارل شو چې اوس یې یواځې یوه دري نسخه د بریتانیا په برتش موزیم کې خوندي ده. علي شرف الدین یزدی د تیمور یو بل منشي و چې وروسته بیا د شهرخ دربار کې هم په کار بوخت شو، هغه هم (ظفر نامه تیموري) ولیک، لاندې پوهان د تیمور پر مهال اوسیدل: میر سید علي همداني او بها الدین نقشبند بخاري چې نامتو صوفیان وو، سعد الدین تفتازاني او سید شریف الدین جرجاني چې نامتو فاضلان وو. نجم الدین طارمي چې د کامل التواریخ ابن اثیر ژباړونکی او منشي و، علي بدر شاعر هراتي او ابراهیم شاه طبیب کرماني.

په افغانستان کې د تیمور اغیزې: سره له دې چې د تیمور یرغلونو او جګړو په پیل کې د افغانستان بیا پر حال راغلی او نوی ژوندی شوي ښارونه یو ځل بیا و نړول لکه د بلخ حصار هندوان، د پوشنګ ښار، د هرات ځلي، طوس ښار او جلال آباد ښار چې تړول و نړول شول، همدارنګه د هېواد لویدیز کې د هلمند حوزه (سیستان او بست) تړول ویجاړ او سپیره شول. همدارنګه په هرات، او سیستان او پوشنګ کې ډېر خلك ووژل شول او ډېرو ځایونو کې د سرونو ځلي جوړ شول، خو بیا هم تیمور د واکمنۍ پرمهال په هېواد کې سیمه ییزې ملوك الطوایفي او سیمه ییز حاکمیتونه چې هر یو په جلا جلا توګه حکومتونه چلول او د افغاسنتان سیاسي وحدت یې له ګواښ سره مخامخ کړی و، له منځه یووړل او وروسته تر یوې نیمې پیړۍ څخه یې افغانستان د یوه مرکزي دولت تابع کړ، سره له دې چې پلازمېنه په سمرقند کې او له افغانستان څخه بهر وه او دغه دولت یواځې د افغانستان ځانګړې دولت نه بلکې د منځنۍ آسیا یو سراسري دولت و.

# دوهم

# بیا ژوندن

## د افغانستان ګورګاني دولت

له تیمور څخه ۳۲ نارینه اولادونه پاتې شول چې څلور یې زامن او ۳۲ یې لمسیان وو، هغه ۱۷ لورګانې او د لورګانو له خوا لمسیانې درلودې، جهانګیر، امیر شیخ، میرانشاه او شهرخ د هغه زامن وو. د هغه مشران زامن په ترکستان او ایران کې د پلار په ژوندانه مړه شول. وروسته بای میرانشاه هم په هغه جګړه کې ووژل شو چې په آذربایجان کې یې له قرا یوسف سره وکړه، یواځې یو زوی یې شهرخ په افغانستان کې ژوندی پاتې شو. د تیموري دولت له ځانګړتیاوو څخه یوه دا وه چې تیموري شهزادګان د پاچا یو

Scanned by CamScanner

(ګډ دولت) و چې هر یوه په ایران، افغانستان او ماورالنهر کې سیمې په واک کې لرلې چې هر یو نیمه پاچا وو نو ځکه هر شهزاده د پوره پاچا کېدو هوس کاو او کله به چې وار ورته برابر شو پاځېدل به او دولت به یې له اړ - دوړ سره مخامخ کړ. البته په خپله د تیمور ځواك ددې ډول اړ - دوړ مخه نیولای شوه، خو کله چې هغه ومړ دغه اورونه بل شول. آن دا چې زامنو پلرونه او ورونو ورونه ووژل. دغه ډول ځانګړتیاوې او جګړې له یو بل سره د ځواکمنو فیوډالانو ځواك غوښتل څرګندوي. په هر حال، همدا چې تیمور د سیحون په غاړه ومړ، لا یې مړی سمرقند ته نه ورسول شوی چې امیرزاده سلطان حسین له اردو څخه جلا او سمر قند ته ولاړ چې په شاهي تخت باندې کېني، په داسې حال کې چې د تیمور د دربار نورو غړانو د تمیور یو بل لمسی میرزا خلیل سلطان د پاچاهي په تخت کېنولی و. میرزا پیر محمد د تیمور ولیعهد او بل لمسې چې د خپل نیکه له مړینې خبر شو، له افغانستان څخه مخ په سمرقند له یوه لښکر سره وخوځېد چې هلته تاج او تخت تر لاسه کړي، خو د خلیل سلطان لښکرو هغه ته ماتې ورکړه.

## د شهرخ پر مهال

په دې مهال کې شهرخ د تیمور زوی د افغانستان حاکم په ۱۴۰۴ کې په هرات کې د پاچاهي اعلان وکړ. خلیل سلطان په سمرقند کې او پیر محمد د زابلستان حاکم دواړو شهرخ ته غاړه کېښوده چې وروسته بیا دواړه له منځه ولاړل، دا ځکه چې نظامي افسرانو ټولو د خلیل سلطان په وړاندې پاڅون وکړ. خلیل سلطان یو عیاش او ډېر لګښت کوونکی ځوان و او د (شاد ملك) په نوم یوې ښځې باندې مین شو، کله یې چې هغې سره واده وکړ ددغې ښځې په لمسون یې د تیمور ښځې د تیمور له مامورینو سره واده کولو ته اړ ایستلې، نو ځکه نظامیان را پاڅېدل او هغه یې له منځه یووړ. پیر محمد ولیعهد هم د خپل دربار د یوه لوړ مامور په لاس ووژل شو، په دې توګه تیموري دولت په افغانستان کې متمرکز شو او هرات یې پلازمېنه شوه.

شهرخ په ۱۳۹۲ کې د خپل پلار له خوا د هرات د حاکم په توګه وټاکل شو او تر ۱۴۴۲ پورې یعنی نیمه پېړۍ په هرات کې و. هغه په ۱۴۰۵ کې مرزا سلطان حسین باغي په هرات کې وواژه او مرزا سلیمانشاه یې له کلات څخه تیښتې ته اړ کړ، همدارنګه ده د جوزجان ولایت را خپل کړ. د تیموري کورنۍ شهزاده ګانو لکه میرزا سکندر، مرزا عمر، مرزا سلطان حسین او مرزا سلیمانشاه او مرزا بایقرا ټولو یو په بل پسې شهرخ ته سرخوږي پیدا کاو خو شهرخ په قهر او یا ځینې وخت په نرمښت سره ټول ماتې سره مخامخ کړل. په ۱۴۰۸ کې یې سمرقند او ماورالنهر ونیول او د هغه ځای حکومت یې خپل زوي مرزا الغ بیك ته ورکړ. په ۱۴۰۹ کې یې د عجم عراق د نیولو لپاره لښکر مخ په ایران وروست. په ۱۴۱۰ کې ماورالنهر ته ولاړ او د هغه ځای اړ - دوړ کوونکی یې وځپل. په ۱۴۱۴ کې د مازندران له لارې اصفهان ته ولاړ او پارس یې ونیو. په ۱۴۱۵ کې یې کرمان او په ۱۴۱۷ کې یې آذربایجان ونیول.

په ۱۴۲۲ کې هراتي احمد په چړې سره پر شهرخ یرغل وکړ، هغه یې ټپي کړ، خو ټپ کوچنی و او شهرخ

Scanned by CamScanner

بیرته روغ شو. په ۱۴۲۸ کې یې په ایران کې یو ځل بیا د آذربایجان د پخواني پاچا قرا یوسف زوی سکندر ته ماتې ورکړه، دا هماغه ډول ماتې ورکول و لکه چې شهرخ دده پلار (قرا یوسف) ته په ګنجه باندې د یرغل پرمهال په ګرجستان کې ماتې ورکړې وه. له دې وروسته شهرخ د افغانستان، ایران او ماورالنهر د هېوادونو پاچاو، هغه دا مهال د هېواد د پرمختیا او د دولت د کلك کولو لپاره پوره وخت درلود. د هغه پر مهال د افغانستان خلکو یو نوی ژوند پیل کړ، چې ډېر ژر هرات د منځنۍ آسیا په ښارونو کې د ملغري په شان و ځلید او د هنرمندانو او علماوو یو ټاټوبي شو. دا ځکه چې هرات د کرت پاچاهانو پر مهال دیوې پیړۍ په ترځ کې د مدنیت لومړنی پړاوونه (د چنګیز له لوټ او وژنې وروسته) تیر کړي وو، او ورو ورو یې د یو لوی پرمختګ لپاره ځان چمتو کاو. ګوهرشاد د شهرخ ښځې هم د شهرخ لاره پر مخ بیوله، دوې د مال د ګټلو لپاره دواړو سرونه په لاس ایښي وو. جلال الدین لطف الله، صدر الدین ابراهیم، محمد امین او عبدالحمید فرومي د شهرخ د صدر لویان او غیاث الدین سمناني، سید فخر الدین، خواجه نظام الدین احمد، خواجه غیاث الدین پیر محمد خاني، خواجه سیدي احمد شیرازي، امیر علي او خواجه شمس الدین علي یې وزیران وو.

د شهرخ پر مهال د ګورګاني دولت ځواك هغه برید پورې رسیدلی و چې کولای یې شول په قبچاق د مغلو پاچا هم له تخت څخه را کوز کړي او بل یې پر ځای یې کینوي. په هر حال، شهرخ چې کله په ایران کې په سفر روان و، ناروغ شو چې په ۷۲ کلنۍ کې په ۱۴۴۲ کال کې له نړۍ سترګې پټې شوې او مړی یې له هرات څخه سمرقند ته یووړل شو هلته د خپل پلار ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

## د الغ بیګ پر مهال

د شهرخ له مړینې وروسته د تیموري شهزاده ګانو په منځ کې بیا جګړې پیل شوې، له ټولو زیات مرزا عبداللطیف چې د شهرخ په اردو کې و، خپله نیا ملکه ګوهر شاد ولوټله، وروسته ورپسې د نیشاپور حکمران مرزا اعلا الدوله عبداللطیف بندي کړ او مرزا ابابکر چې د شهرخ یو بل لمسی و په تخارستان کې او بلخ کې د پاچاهي اعلان وکړ، خو الغ بیګ د شهرخ زوی چې له ۱۴۱۱ څخه را په دې خوا د ماورالنهر حاکم و. د پلار تر مړینې وروسته په ۱۴۴۲ کې په ماورالنهر کې ځان خپلواك کړ او د هرات پر ځای یې سمرقند خپله پلازمېنه وګرځوله، بیا له هغه ځایه افغانستان ته راغی او په بلخ کې میشت شو مرزا ابابکر او اعلا الدوله ورته تسلیم شول او زوی یې عبداللطیف پرېښودل شو او الغ بیګ بیرته سمرقند ته ستون شو. دغه پاچا چې د نجومو په علم کې پوه او یو ماهر او فاضل شخص و، په سیاست نه پوهید، دا ځکه چې هغه د خپل سلطنت ور بوی بیا د شهزادګانو ترمنځ وویش، نو ځکه یې سلطنت له اړ- دوړ سره مخامخ شو او ملوك الطوایفي سر را پورته کړ. خواجه ناصر الدین نصر الله خوافي د الغ بیګ وزیر و. لا د هغه د پاچاهي دوه کاله نه و پوره چې میرزا ابوالقاسم بابر د مازندران حاکم پاخون وکړ او په ۱۴۴۸ کې یې هرات ونیو، په

۱۴۵۰ کې یې له خپل ورور مرزا سلطان محمد سره جګړه وکړه او هغه یې مړ کړ. د نیشاپور حاکم مرزا اعلا الدوله هم د جوزجان په ولایت ور ودانګل الغ بیګ یو ځل بیا افغانستان ته راغی او د مرغاب په غاړو کې یې اعلا الدوله له ماتې سره مخامخ کړ او مخ په مشهد یې وخغلاو، دا مهال یې د هرات حکومت خپل یوه لیوني زوی عبداللطیف ته وسپاره او د شهرخ مړی یې سمرقند ته یووړ. مرزا بابر بیا پر هرات یرغل وکړ او د سیستان له سیمه ییز امیر شاه حسین څخه یې بیعت تر لاسه کړ. عبداللطیف چې له ویرې څخه هرات پرېښی و او بلخ ته تللی و او د هغه ځای په حکومت یې قناعت کړی و، خو د خپل پلار په ضد و، دا ځکه چې الغ بیګ د هغه کوچنی ورور مرزا عبدالعزیز را پورته کړ، نو ځکه عبداللطیف پرته د پلار له امر څخه د تمغا مالیات او زکات خلکو ته وبښل، نو ډیر خلك دده پلویان شول. کله چې الغ بیګ د خپل زوی دا کار ولید، نو د هغه د ټکولو لپاره یې افغانستان ته لښکر را ولیږ دا مهال عبداللطیف د جیحون په غاړو کې د دفاع حالت غوره کړ، خو دا مهال د پاچا له لښکر څخه یو بل شهزاده (ابو سعید مرزا) و تښتید او په سمرقند کې یې د الغ بیګ زوی مرزا عبدالعزیز کلا بند کړ الغ بیګ له دې ویرې څخه چې پلازمېنه له لاسه ور نه کړي، له عبداللطیف سره جګړه پرېښوده او سمر قند ته ستون شو، عبداللطیف نور هم زړور شو، خپل پلار پسې ور روان او له جیحون څخه ور پورې وت. له دې امله چې ابو سعید لا مخکې د سمر قند له کلابندۍ څخه لاس اخیستی و او د الغ بیګ د راتګ له ویرې تښتیدلی و، نو الغ بیګ بیرته له نیمې لارې را ستون شو، د دمشق په کلي کې له عبدالطیف سره و نښت، خو د جګړې پر ډګر یې د خپل لښکر کمزوري ولیده، نو ځکه مخ په سمرقند ولاړ، خو دا ځل د ښار د کلاساتونکی میرانشا د ښار دروازه پاچا ته نه پرانیستله، نو ځکه الغ بیګ ولاړ شو چې شاهرخیه کلا ته ولاړ شي. د شاهرخیه کلا کوټوال ابراهیم پولاد هم لکه د سمرقند د ښاروال میرانشا په څیر او لکه د ټولو سمرقندیانو په څیر د الغ بیګ په ضد و، دا ځکه چې الغ بیګ خپل یو ډیر ظالم زوی مرزا عبدالعزیز د پلازمینې واکمن کړی و او د هغه د ظلم له لاسه خلك تر پوزې پورې رسیدلي وو، نو ځکه د سمرقند د کلا ساتونکی د پاچا پرمخ د ښار دروازه ترلې پرېښوده، د شهرخیه کوټوال ملا وتړله چې پاچا ونیسي، عبداللطیف د خلکو له دغې کړکې څخه ګټه پورته کړه، او سمرقند ته راغی، دروازې دده پرمخ پرانیستې وې، نو ځکه یې د امیر تمور په شان په ښکاره توګه یو مغل د پاچا په توګه وټاکه او خپله یې د دولت د چارو واك په لاس کې ونیو. الغ بیګ چې دا حالات ولیدل پرته له جګړې د خپل زوی دربار ته ورغی.

عبداللطیف داسې یو سړی چې پلار یې وژل شوی و ولسماو چې مغل مصنوعي خان څخه وغواړي چې له الغ بیګ څخه دده د پلار کسات واخلي، لاسپوخي خان حکم وکړ چې دغه دعوا دې محکمې ته وړاندې شي او شرعي حکم دې جراي شي. پرته له یوه قاضي څخه د سمرقند نورو ټولو فقهاوو د عبداللطیف له خوښې سره سم فتوا ولیکله او ویې ویل چې الغ بیګ باید قصاص شي. دا مهال عبداللطیف خپل پلار د امیر حاجي محمد خسرو په نوم یوه سړی ته وسپاره چې هغه د حج کولو په نامه له سمرقند څخه وکاږي. حاجي خسرو د همدغې پیښې را پور تاریخ لیکونکی میرخوند ته په دې توګه

بیان کړی دی چې میرخوند په خپل تاریخ (روضه الصفا) کې په دې ډول لیکلی دی (ماښام له الغ بیګ سره یو ځای له سمرقند څخه ووتم، پاچا خوشحاله په آس سپور و او مرکې یې کولې او خوشحاله و، خو ناڅاپه د ځټ له لورې یو په آس سپور سړی راغی او یو امر یې راوړ. امر کې ویل شوي و چې پاچا بآید شپه په دغه نژدې آبادۍ کې تیره کړي، تر څو د هغه د سفر وسایل ورته چمتو شي. خو مونږ اړ شولو چې هغه نژدې کلي کې تم شو. په یوه کوټه کې مو اور بل کړ، الغ بیګ د کباب د پخیدو په تمه کیناست، خو ویرې پسې اخیستی و. یو ناڅاپه ور پرانیستل شو او عباس له یوه بل سړي سره را ننوت، الغ بیګ چې عباس ولید ور پاڅید اوپه تېتر باندې یې د سوک ګوزار ور باندې وکړ، خو د عباس ملګری را وړاندې شول او د پاچا التایې پوستین یې د هغه له اوږدې کوز کړ. عباس د یوې رسۍ د راوړلو په خاطر له کوټې څخه ووت، حاجي خسرو دروازه وتړله، پاچا چې له نږۍ څخه لاسونه مینځلی و نو غسل (اودس) یې وکړ او ځان یې مرګ ته چمتو کړ. عباس را ننوت او پاچا یې بهر کړ او بیا یې هغې ډیوې ته نژدې کیناو چې لګیدلی وه او همالته یې په توره باندې د هغه د ژوند ډیوه ور مړه کړه (۱۴۴۸). په دې توګه الغ بیګ چې لا اوس هم د سمرقند رصد خانه (ځار ځای) د هغه د علم پالنې یوه نښه ده، د خپل د جاه طلبۍ قرباني شو، دا په داسې حال کې چې دوه- درې ورځې مخکې عبداللطیف خپل محسود ورور عبدالعزیز هم وژلی و.

د الغ بیګ تر مړینې وروسته په افغانستان کې د تیموري شهزادګانو ترمنځ کورنیو جګړو نور هم زور واخیست. اعلا الدوله او سلطان محمد او میرزا بابر د واک د ترلاسه کولو لپاره یو بل سره اخته وو. خلك په تنګ راغلل، کاتې ولویده او په هرات کې یو خروار غنم څلور سوه دینارو ته ورسیدل، ددغې کاتې زیان له هغه طاغون او وبا څخه هم زیات و چې د شهرخ پر مهال په هرات کې خوره شوی وه. په هرحال د ماورالنهر خلك د عبداللطیف له پاچاهۍ زړه توري شوی وو او وروسته تر څو میاشتو کله چې هغه د باغ چنار له سیل څخه بیرته سمرقند ښار ته را روان و، یو شمیر خلکو غشي ورباندې وورول، له هغه سره نور سپاره کسان و تښتیدل، ترووریستان را ورسیدل او سر یې ور پرې کړ او هغه یې د الغ بیګ د مدرسې په وره باندې ځوړند کړ (۱۴۴۹). سم له لاسه د عبداللطیف زوی مرزا عبد الله د پلار پر ځای کیناسته هغه په دې و توانید چې د مرزا سلطان ابو سعید یرغل په سمر قند باندې شنډ کړي، خو دا یوه لنډه بریا وه. دا ځکه چې ابو سعید د قبچاق له چغتایي واکمن ابوالخیر خان څخه نظامي مرسته تر لاسه او په ۱۴۵۰ کې یې بیا پر سمرقند یرغل وکړ او مرزا عبدالله ته یې ماته ورکړه او هغه یې وواژه او په خپله پاچا شو.

Scanned by CamScanner

## مرزا سلطان ابو سعید پر مهال

ابو سعید د میرزا سلطان محمد زوی، د میرانشاه لمسی او د امیر تیمور کړوسی و هغه ته په پیل کې د الغ بیګ ملازمت ور په غاړه و، خو وروسته مخالف شو، عبداللطیف هغه په سمرقند کې بندي کړ. خو له هغه ځایه و تښتید او د عبداللطیف له مړینې وروسته یې په بخارا پاځون وکړ او د هغه ځای ناستی مرزا عبد الله یې وواژه او ځان یې پاچا اعلان کړ. ابو سعید شپږ کاله په ماورالنهر کې د دولت د چارو په سمون کار وکړ، له هغه وروسته یې افغانستان ته پام شو. په همدې موده کې افغانستان د تیموري شهزاده ګانو په اړ- دوړ کې سوځید چې مرزا بابر او علاو الدوله، مرزا سلطان محمد او بیا مرزا بابر له خپلو نورو سیالانو سره په اخ و ډب کې و او په پای کې مرزا بابر په نورو بریالی شو او علا الدوله یې په هرات کې بندي کړ او خپل مشر او زړور ورور یې د ایران د استر آباد په جګړه کې په ۱۴۵۰ کې له ماتې سره مخامخ او ویې واژه. وروسته تر هغه څخه بابر په ایران باندې یرغلونه کول او دا مهال په افغانستان کې بیا علاو الدوله پاځون وکړ او بابر هرات ته راستون شو، علا الدوله چې فاریاب او بلخ نیولي وو، د تخارستان له لښکرو څخه یې ماتې وخوړه او په ایران کې د آذر بایجان ترکماني پاچا مرزا جهانشاه ته ور وتښتید او پنا یې ورووړه، جهانشاه په ۱۴۵۲ کې عراق او فارس د مرزا بابر له خواټاکل شویو حاکمانو څخه را جلا کړل، خو افغانستان او د هرات پلازمېنه تر ۱۴۵۵ پورې مرزا بابر سره پاتې شول.

په همدې کال بابر له هرات څخه مشهد ته ورغی، خو هلته د ډیرو شراب څښلو له امله ناروغ شو او وم. د بابر د دربار لویو امیرانو د هغه یوولس کلن زوی محمود پاچا کړ او هرات ته راغلل، خو دا ځل د محمود یو څواکمن امیر شیخ ابو سعید ظلمونه شروع کړل او د هرات پر خلکو یې ډیرې زیاتې پیسې حواله کړې او دغه پیسې یې په زور او ربړونو له خلکو واخیستې. د هغه ماسلانو د یوه دینار پر ځای لس دیناره له خلکو واخیستل، ده آن خیراتي موقوفات واخیستل، یو شمیر خلك په دې لړ کې لوټ شول، یو شمیر و تښتیدل او یو شمیر ووژل شول، په پای کې کوچنی سلطان محمود د امیر شیر حاجي په مشوره چې ځان یې د خلکو له قیام سره مخامخ ولید، د خلکو د د لاساینې او بیرته پخلا کولو په خاطر ددغه ډوله حوالی د بخشلو فرمان ورکړ او د امیر شیخ ابو سعید د شتمنې د لوټولو امر یې هم ورکړ، خلك ور پاڅیدل او شیخ ابو سعید یې چې د مرغاب په لاره کې له ځان څخه دفاع کوله را ونیو او مړ یې کړ. دا مهال د لویو امیرانو سیالي چې یو بل سره په اخ و ډب وو، د محمود دربار سست کړ، نو ځکه د علا الدوله زوی مرزا ابراهیم پاځون وکړ او سلطان محمود ته یې ماتې ورکړه او په خپله په ۱۴۵۲ کې د هرات پاچا شو.

همدا مهال سلطان ابو سعید له ماورالنهر څخه افغانستان ته راغی او دغه اړ- دوړ ته یې خاتمه ورکړه، سره له دې چې ابو سعید یو د فضیلت خاوند پاچا و، خو په هرات کې یې د ملکې ګوهر شاد د وژلو امر ورکړ، دا هماغه ښځه وه چې اوس هم د هغې د مهال ښکلې ودانۍ په هرات او مشهد کې شته. کله چې ابو سعید ماورالنهر ته ستون شو، افغانستان بیرته د فیوډالانو او سیمه ییزو واك غوښتونکو امیرانو

د کشمکش ډګر وګرځید.

مرزا ابراهیم هرات ته راغی او په آسانه وربانديٍ واکمن شو. له استر اباد څخه تر سبزوار پورې سیمه ټوله د مرزا جهاندار په برخه شوه، مرزا سلطان سنجر په مرو کې خان خپلواک اعلان کړ. مرزا شاه محمود په طوس کې، احمد یساول د هرات دننه اختیار الدین کلا کې. پیرک مغل د (تیره تو) په کلا کې. امیر عبد الله په سرخس کې، د قرا یوسف لمسي ملك قاسم او امیر خلیل په سیستان او فراه او اسفزار کې، حسن شیخ تیمور په خبوشان کلا کې، ایمر اویس بن خاوند شاه د طبس په کلا کې حکمرانان او پاچان ول. دا ټول هغه حکمرانان او فیوډالان وو چې تل له مرکز څخه په تېښته وو. په همداسې یو حالت کې مرزا جهاندار شاه ترکمان هرات ته راغی چې مرزا ابراهیم او د هغه پلار علا الدوله غور ته وتښتیدل، خو هلته هم پلار او زوي یو د بل په سرونو وهل. ترڅو چې دواړه د دربدرې په حال کې مړه شول او مړي یې هرات ته را وړل شول.

سلطان ابو سعید چې له ماورالنهر څخه بلخ ته راغلی و، هرات ته لښکر وروست او هلته یې امیر جهاندار شاه داسې سولې ته اړ کړ چې فقط د آذربایجان په حکومت یې راضي کړ. د نیشاپور، طوس، جرجان، مازنداران، عراق او پارس ولایتونه یې ابو سعید ته ور پرېښودل. جهاندار شاه په دې شرط دغه ټکي ومنل چې د هغه بندي کړل شوی زوی امیر حسین علي په آذربایجان کې د خپل پلار په وړاندې پاڅون کړی و، نو ابو سعید هرات ته راغلی و او لږ رووسته بیا علا الدوله او مرزا ابراهیم او یاغي مرزا سنجر د مروې او سرخس ترمنځ په ۱۴۵۸ کې ونیول او سنجر یې وواژه. په ۱۴۶۰ کې سلطان ابو سعید له هرات څخه د مرزا عبداللطیف د زوی مرزا محمد جوکی د ټکولو په خاطر ماورالنهر ته ورغی، خو د هغه تر شا سلطان حسین مرزا له استر آباد څخه په هرات یرغل وکړ، نو ابو سعید اړ شو چې بیرته را وګرځي، سلطان حسین بیرته استر آباد ته وګرځید او ابو سعید تر مازندران پورې هغه وڅغلاو او بیا ماورالنهر ته ولاړ. جوکی په پای کې په ۱۴۶۳ کال کې سلطان ابو سعید ته تسلیم شو، خو د هرات د اختیار په کلا کې بندي شو تر څو چې همالته ومړ.[1]

سلطان ابو سعید چې کله د جوکی کار یوې خواته کړ، بیرته هرات ته ور وګرځید او خواجه شمس الدین محمد وزیر یې د هغو ډېرو پیسو له امله چې ټولې کړې یې وې تر تحقیق لاندې ونیو. وزیر ورته ځواب ورکړ چې د دولت مال مې نه دی خوړلی، خو په دې یې اعتراف وکړ چې رعیت او اعیانو څخه یې پیسې وهلي دي. سلطان ورته وویل هغه څه دې چې له خلکو اخیستی در بښم یې، خو له دندی څخه عزل یې. وزیر چې کله د خلیفه له امیانی څخه دا مفته بخشش ولید نو په خوښۍ سره یې د وزارت ګوتمی سلطان ته ورکړه او په هغو پیسو سره چې تر لاسه کړې یې وې په استراحت پیل وکړ. ابو سعید په ۱۴۶۲ کې بدخشان ونیو او د هغه ځای سیمه ییز پاچا یې مړ کړ چې سلطان محمود نومید او اولادونه یې ونیول.

د ابو سعید پرهال یوځل پر هرات یوه بده کاختي راغله، دا ځکه چې د شهزاده ګانو د کورنیو جګړو له

[1] - پخوا به ښارونو څخه پنډ دیوالونه را تاو وو او ښار به د کلا بڼه درلوده، همدارنګه لښکر کوټو نه هم د نظامي کلاوو دننه جوړېدل چې دغو کلاوو به لوړ برجونه او پریړ دیوالونه لرل چې ورته حصار ویل کېدل. تحصن، محصور، حصاري کېدل ټول د کلابندي معنا لري. ژ.

املـه کرنې تـه ډېر زیات زیان واوښت، وروسته بیا ورپسې په ۱۴۲۱ کې یوه وبا ګډه شوه او ډېر خلک یې ووژل، ابو سعید په ۱۴۲۷ کې یو ځل بیا په ایران باندې یرغل وکړ دا ځکه چې د دیار بکر واکمن حسین بیګ په هغې جګړې کې چې د آذربایجان له واکمن جهاندار شاه سره یې کړې وه، هغه وژلی و او واک یې خانته اخیستی و او ډېر زور یې پیدا کړی و، خو کلک ژمی او کاختي او د دښمن زور درې وارو سره یو ځای شول او په ۱۴۲۸ کې سلطان ابو سعید د اران د قره باغ په سیمه کې ماتې وخوړه او دښمن ونیو او ویې واژه. د ابو سعید تر مړینې وروسته سلطان احمد مرزا تر ۱۴۹۳ پورې په ماورالنهر کې حکمران و. وروسته تر سلطان محمود څخه تر ۱۵۰۰ پورې د هغه د زامنو ترمنځ د واک د نیولو په خاطر شخړه روانه وه او دغې کورنۍ جګړې د محمد شیباني د نوی ځواک لپاره لاره هواره کړه. نوموړي وروستي تورانی سوبمن و.

## د سلطان حسین مرزا پر مهال

سلطان حسین مرزا بن غیاث الدین منصور بن مرزا بایقرا بن عمر شیخ بن امیر تیمور په ۱۴۳۸ کال کې په هرات کې وزیږید او په ۱۴۵۸ کې د جرجان او مازندران په حکومت وګومارل شو. هغه په ۱۴۲۸ کې کله چې د قبچاق د چغتایي پاچا ابو الخیر خان له دربار څخه بیرته را ګرځید، نو په ابیورد کې د ابو سعید له وژل کیدو څخه خبر شو، نو ځان یې پلازمینې هرات ته ورساو او خلکو ورته ښه راغلاست ووایه، نو په هماغه کال پاچا شو. همدا مهال و چې امیر علي شیر نوایي له ماورالنهر څخه دده دربار ته راغی او د سلطنت د مقام د مهر لرونکی دنده ور په غاړه شوه او په ۱۴۷۱ کې د امارت (دیوان اعلی) مقام ته ورسید. سلطان حسین د غور او زمینداور د حکومت چارې امیر شجاع الدین ذوالنون ارغون ته وسپارلې چې یو لوی تیموري امیر و. هغه مهال هزاره خلکو او د تکودري سیمو خلکو په زمینداور کې ډېر واک درلود. سلطان حسین چې وروسته تر شاهرخ څخه د افغانستان یو ډېر مهم ګورګاني پاچا و، د خپل مدبر وزیر علي شیر نوایي په مرسته یې و کولای شول چې د هېواد چارې ډېرې ښې اداره کړي. خو د ګورګاني کورنۍ هماغه زوړ روش چې شهزاده ګان به یې د دولت په دننه کې د نورو دولتونو په جوړولو ګومارل او تل به د مرکزي دولت لپاره آشوب او سر درد کیدل، هماغسې روان و او دا روش به په پای کې د مرکزي دولت د نړیدلو لامل کید. مثلاً د مزار د ښار تر جوړولو وروسته سلطان خپل مشر زوی بدیع الزمان مرزا چې د ایران د استر آباد حاکم و، د بلخ حاکم کړ او هغه خپل نوی خلمکی زوی مومن مرزا په خپل ځای په استر آباد کې وټاکه، حال دا چې سلطان دغه مقام خپل دوهم زوی یعنی مظفر حسین مرزا ته ورکړ، مظفر حسین مرزا د سلطان تر ټولو زامنو غوره توب درلود، دا ځکه چې د هغه مور (خدیجه بیګي آغا) لا ژوندۍ وه او د سلطان تر ټولو غوره ښځه وه او په اردو کې یې هم واک چلید. دغې ښځې په زر، زور او دسیسې سره خپل زوی وړاندې وړاندې کاو، خو خپل ناسکه نور زامن یې نیټ ګڼل. دغه چلند شهزاده ګان یو بل سره په سیالي او دښمنې کې واچول او دې سیالی ټول هېواد کې د اقتدار اړو دوړ ته زور ورکړ. په دې ډول یوه رژیم کې د شاهي کورنۍ ارستو کراسي چې د الیګارشي یوه

Scanned by CamScanner

ورسته بنه وه، د هیواد او خلکو ټولې ګټې د شخصي غرضونو او د سلطنت د کورنۍ د غړو د ګټو لپاره خاورو سره خاورې کولې.

کله چې بدیع الزمان په بلخ کې خبر شو چې دده پلار دده د زوی ځای دده ورور ته ور کړی او په استر آباد کې یې مقرر کړی، نو مومن مرزا ته یې ولیکل چې خپل تره ته تسلیم نشي. نو ځکه په ۱۴۲۹ کې د مومن او حسین ترمنځ په استر آباد کې جګړه وشوه چې په پای کې مومن له ماتې سره مخامخ شو او د هرات په ارګ یعنی د اختیار الدین په کلا کې بندي کړل شو. بدیع الزمان په بلخ کې خپلواکه لاره غوره کړه. سلطان و غوښتل چې خپل زوی د لښکر په زور مغلوب کړي خو امیر علیشیر چې یو با تدبیره شخص و د جګړې مخه ونیوله او ژمنه یې وکړه چې بدیع الزمان به د خبرو له لارې تابع کړي. علیشیر بلخ ته ورغی او بدیع الزمان تسلیم شو، خو د سلطان هغه پټ منشور را برسیره شو چې په هغه کې د بلخ کوټوال امیر برلاس ته یکې امر شوی و چې کله که بدیع الزمان له ښار څخه ووت نو بیرته به ورته کلا ته د ننوتلو اجازه نه ورکوي. کله چې بدیع الزمان دغه دسیسه کشف کړه نو د علیشیر ژمنو ته کلك پاتې نه شو، نو ځکه علیشیر ناکامه راستون شو. سلطان په خپله یو لښکر چمتو او د خپل زوی د ټکولو په خاطر ورغی. بدیع الزمان تر بلچراغ پورې ورغی خو د پلار په وړاندې یې جګړه و نه کړه او کندهار ته وتښتید.

سلطان بیرته هرات ته را ستون شو او لا رسیدلی نه و او د مرغاب د سیند خوا کې یې د شرابو د څښلو مجلس درلود چې خدیجه بیګي آغا له نظام الملك سره لاس یو کړ او له بد مستۍ سلطان څخه یې د مومن د وژلو فرمان تر لاسه کړ او په هماغه شپه یې څلور تنه ډاکې جلادان هرات ته ولیږل او د هغه څوان سر یې ور پرې کړ، د سلطان دغه کار بدیع الزمان په غوسه کړ، نو ځکه یې په کندهار او زمینداور کې د امیر ذوالنون او د هغه د زامنو شجاع بیګ او محمد مقیم سره یو ځای نظامي ترتیبات ونیول. خو سلطان وار لومړی کړ خپله یې سوقیات وکړل او تر بست پورې وړاندې ورغی، خو کاختی او د شاهي کورنۍ د امیرانو ذهني ګډوډي هغه اړ کړ چې بیرته هرات ته را وګرځي. بدیع الزمان تر اسفزار پورې ورسید او په «النګ نشین» کې یې د پلار پر لښکر یرغل وکړ خو له ماتې سره مخامخ شو او غوږ ته ولاړ.

محمد حسین مرزا د سلطان بل زوی هم مخکې لا له هرات څخه وتلی و او په ایران یې یرغل کړی و او هلته یې له مظفر حسین مرزا سره جګړه پیل کړې وه او خپله د ایران په شمال کې ترکمانانو ته ور رسیدلی و. کله چې سلطان دا ګډوډي ولیده، په ۱۴۹۸ کې یې د ملایانو په منځګړیتوب له بدیع الزمان سره روغه وکړه او دا یې ومنله چې د سیستان او فراه حکومت به د بدیع الزمان په لاس کې وي، خو دا هم د جګړو د مخنیوی لپاره بس نه وه، دا ځکه چې د مومن له وژل کیدو وروسته د سلطان زامن لکه ابو المحسن مرزا د مروې والي، محمد محسن مرزا د مشهد والي او ابن حسین مرزا د قاین حاکم او نور د دربار له امیرانو سره یو ځای له سلطان څخه مرور او کرکه یې ور څخه پیدا کړې وه، نو ځکه بدیع الزمان یو ځل بیا پرهرات یرغل وکړ او سلطان دا ومنله چې په خطبه کې دې وروسته دده له نوم څخه د بدیع الزمان نوم ولوستل شي او د بلخ او تخارستان حکومتونه یې هم بدیع الزمان ته ور وسپارل

Scanned by CamScanner

بديع الزمان د سلطان په ځوارلسو زامنو کې تر ټولو مشر زوی و چې له ده سره یې یوولس لورګانې هم درلودې

د پاچاهي کورنۍ ددغه کشمکش سره سره، سلطان حسين مرزا وکولای شول چې د خپل ۲۷ کلن سلطنت په دوره کې په افغانستان، ماورالنهر او د ایران په ډېرو برخو خپل واك کلك وساتي. د سلطان حسين دوره د یو شمير پيچلتيا وو سر سره او د اداري ګډوډيو او د شهزاده ګانو د جګړو سره سره د فرهنګ له پلوه يوه غوره دوره وه سلطان حسين په ۱۵۰۵ په خپله پلازمېنه هرات کې ومړ او یو لوی هېواد يې د خپلو خانداني شهزادګانو اړ- دوړ او تجزيه طلبي په واك کې ور پرېښود. په دې دوره کې یو ځل بيا افغانستان له اقتصادي، اداري، سياسي او فرهنګي پلوه د انحطاط یوی دورې ته ننوت چې ددغه انحطاط سياسي کرښه او نورې کړۍ تر اتلسمې پېړۍ پورې را ورسيدې. خو د فرهنګي انحطاط کړۍ آن تر شلمې پېړۍ پورې اوږدې شوې. په داسې حال کې چې په همدغه دوره کې لویدیزه نړۍ (يعنى د نويو او معاصرو پېړيو په ترڅ کې) د پرمختګ او تمدن نوی پړاوونه تيرول. د افغانستان په ګاونډ کې هم پياوړي دولتونه جوړ شول چې زمونږ د هېواد په سياست او اداره يې شوم سيوری را پرېوت او ګورګاني ضعيف دولت يې سره وپاشه او يو واحد هېواد يې په درېو برخو وويش. د سلطان حسين له مړينې څخه درې کاله مخکې په ايران کې صفوي دولت جوړ شو او پنځه کاله مخکې په ماورالنهر کې شيباني دولت جوړ شوی و. او شل کاله وروسته بيا په هند کې بابري دولت جوړ شو او دغو ټولو په افغانستان کې دننه تيرى او لاسوهنې ته ملا وتړله او د هېواد ملي او سياسي يووالی ته يې لوی زيان واړاو. د افغانستان کرنه، صنعت او سوداګری يې ټوله له ماتې سره مخامخ کړه او فرهنګي تزلزل هم شروع شو.

## د سلطان حسين د ځای ناستو د امارت پر مهال

د سلطان له مړينې وروسته د هغه زوی بديع الزمان بايد پاچا شوی وای، خو د هغه ميرنۍ مور خديجې چې په اردو کې يې اغيزه لرله پرې نه ښود، او ده پر ځای يې مظفر حسين خپل سکه زوی له بديع الزمان سره ور ګډ کړ، په دې توګه په یوه هېواد کې دوه پاچايان او دوه دولتونه چليدل. مسکوکات د دواړو په نوم په چلند کې شول او خطبه هم د دواړو پاچايانو په نوم لوستل کيده او مالي چارې سمې نيمې د دواړو په لاس کې شوې. دوه صدارتونه او دوه وزارتونه جوړ شول، نو شاو خوا نور شهزاده ګان او فيوډالان هم را پورته شول. په همداسې يو حال کې بهرنی دښمن (شيباني دولت) دوه ځله له ماورالنهر څخه پر افغانستان يرغل وکړ: محمد شيباني په ۱۵۰۲ کال کې بلخ ونيو، په ۱۵۰۷ کې يې اندخوی او مروچاق ونيول او په بادغيس کې يې سلطانين (بديع الزمان او مظفر حسين) دواړه مات کړل او پلازمېنه هرات يې ور څخه ونيو. بديع الزمان کندهار ته او مظفر حسين استرآباد ته وتښتيدل. کله چې محمد شيباني هرات ونيو نو فقها او د پخوانيو عمايمو لرونکو اربابو يې مخې ته ور ودانګل او شيباني صدراعظم ماورالنهري مولانا عبدالرحيم ته يې چې يو بې سواده سړی و، پنځلس زره يو مثقالي ټنګې

رشوت ورکړ او د هغه په لاس یې خانونو ته په شیباني دولت کې مقام او ځایونه ونیول. د هرات پخواني شیخ الاسلام بیا د هرات شیخ الاسلام شو او مولوي نظام الدین عبدالغفار د قاضي القضاتي او نقیبي رتبې ته ورسید. قاضي اختیار الدین او قاضي صدر الدین محمد امامي یوځل بیا د هرات د قاضیانو په کتار کې راغلل، سید صدر الدین یونس د ښار محتسب شو او د مدرسو تدریس ملا برهان الدین. عطا الله. سید صدر الدین ابراهیم، سید زین العابدین مرتاض او خواجه عماد الدین عبدالعزیز ته وسپارل شو

محمد شیباني له هرات څخه ۱۳۵ زره کونده کړی تنګې د جګړې تاوان واخیست هره تنګه یو مثقال وه چې شپږ دیناره بیه یې درلوده. له دې څخه پرته شیباني د سلطانانو تولـه شتمني او د اشرافو مالونه په زور او کړولو ور څخه واخیستل او د هرات د فقهاوو او مذهبي علماوو په فتوایي د مظفر حسین ښځه (ملکه) خان ته واده کړه او د مظفر حسین لور مهر انګیز یې خپل زوی عبید الله سلطاني او کابلي بیګم د بدیع الزمان ملکه یې قنبر مرزاي کوکلتاش ته ور واده کړه. حال دا چې دواړو ملکو ژوندي میړونه درلودل. هغو مذهبي علماوو او فقهاوو چې دغه فتوا ورکړې وه یو مهال دوی تړول د ګورګاني دولت نازولي وو، دا ځکه چې د هغه دولت ځانګړتیا په فقهاوو او شهزاده ګانو ډېره لګول وو. وروسته له دې څخه شیباني ته د (امام زمان او خلیفته الرحمن) لقب د فقها وو له خوا پیشنهاد شو او په همدې عنوان یې نوم خطبه کې لوستل کید. وروسته تر هغه چې شیباني موقوفات له منځه یوړل او خیریه موسسات هم له منځه لاړل، پخواني تنګه کې نیم ډانګ وزن زیات شو، خو پخواني ارزښت یې بدل نشو.

همدارنګه د دښمن راالیږل شوی پوځ په مرو او مشهد کې هم د هغو ځایونو والیانو ته ماتې ورکړه او هغه داواړه یعنی ابوالحسن مرزا او محمد محسن مرزا یې اعدام کړل.

ابن حسین مرزا د قاین حاکم له لنډې دفاع څخه وروسته ماتې وخوړه او دښمن ته تسلیم شو. قاسم مرزا چې کله په مشهد کې د دښمن پر پوځ یرغل وکړ، هم مغلوب شو او بیا اعدام شو. بدیع الزمان چې کندهار ته تښتیدلی و د سیستان له لارې او مظفر حسین د ترشیز له لارې دواړه جرجان ته ولاړل او یو موقتي مرکز یې پرانیست د سلطان حسین ښځې (سلطان بیګم او خدیجه) هم له هرات څخه جرجان ته ورسیدې، د تیموریه یو شمیر امرا هم د سلطانانو نوي دربار ته ځان ورساو، مظفر حسین مړ شو او بدیع الزمان د استر آباد په حکومت قانع شو، خو یو کال لا نه و تېر چې د دښمن لښکر جرجان پورې ورسید، نو ځکه بدیع الزمان آذربایجان ته وتښتید، په پای کې د دښمن دربار ته ورغی او تسلیم شو. وروسته له هغو شیباني مخ په دامغان روان شو او جګړه یې پیل کړه. خو فریدون حسین مرزا د بدیع الزمان ورور او محمد زمان مرزا د بدیع الزمان زوی له دامغان څخه ووتل د شیباني دربار ته ورغلل. وروسته بیا محمد زمان د شیباني په اجازه آذربایجان ته ولاړ، خو فریدون بې اجازې ترکمان ته د اترک غاړو ته ولاړ. وروسته بیا کلات ته راغی او دغه ځای یې ونیو، خو کله چې د دښمن لښکر پر کلات یرغل وکړ ونیول شو او ووژل شو.

ابن حسین مرزا د قاین حاکم چې مخکې شیباني ته تسلیم شوی و، همداسې روغ پاتې و او په پای کې په ۱۵۱۲ کې په کاشان کې مړ شو. بدیع الزمان له تسلیم کیدو څخه وروسته په دې و ګومارل شو چې

Scanned by CamScanner

په ری کې میشت شي خو څه موده وروسته (د هغې ژمنې بر خلاف چې شیباني سره یې کړې وه) مخ په استرآباد لښکر ووست، خو د شیباني له لښکر، څخه یې ماتې وخوړه او زوی یې محمد قلي ووژل شو. بدیع الزمان له استر آباد څخه سند ته و تښتید او یو کال د اوچه او تهته د حاکم میلمه و. په ۱۵۱۲ کې بیرته افغانستان ته راغی او د شیباني دربار ته ورغی. شیباني د هغه قدر وکړ او آذربایجان ته یې ولیږ، خو بدیع الزمان کار پرینښود او د غازان په شنب کې په تبریز کې میشت شو، چې شیباني د ورځې زر دیناره معاش ورکاو. په ۱۵۱۳ کې سلطان سلیم عثماني تر تبریز پورې را ورسید او د بیرته ستنیدو پر مهال یې بدیع الزمان له ځان سره بوت او په استانبول کې یې په قدر او عزت سره وساته. خو بدیع الزمان وروسته تر خو میاشتو مړ شو. اوس د افغانستان له تیموري کورنۍ څخه د بدیع الزمان زوی محمد زمان د شیباني په دربار کې پاتې و. کله چې په ایران باندې یو ځل بیا د عثماني دولت یرغلونه پیل شول او شیباني دولت دفاع ته ملا وتړله، محمد زمان له وخت څخه ګټه پورته کړه استرآباد ته ولاړ او هلته یې حکومت ونیو، خو شیباني لښکر هغه ته ماتې ورکړه او بیرته افغانستان ته راغی او غرجستان کې یې حکومت جوړ کړ. هغه په ۱۵۱۴ کې پر بلخ یرغل وکړ او په ۱۵۱۵ کې یې له شیباني عسکرو څخه بلخ ونیو، خو ډیر ژر یې د بلخ له پخواني حاکم امیر اردو شاه سره چې یو ځواکمن سړی و شخړه شوه، نو ځکه محمد زمان له ښار څخه ووت او په ۱۵۱۶ کې د خبرو اترو پر مهال امیر اردو شاه مړ کړ او بلخ یې کلا بند کړ. قوام بیګ د اردو شاه ځای ناستي چې ځان کې یې د محمدزمان په وړاندې د دفاع قوت نه لید (دا ځکه چې خلکو د شیبانیانو په ضد د هغه ملاتړ کاو) په لیکلې بڼه بابر مرزا له کابل څخه د بلخ نیولو ته را وغوښت، بابر له لښکر سره یو ځای ور ورسید، محمد زمان تسلیم نه شو او غرجستان ته ولاړ، کله چې بابر بیرته کابل ته راغی بیا مخ په بلخ ورغی، د هغې جګړې په ترڅ کې چې دده او د بلخ د بابریانو ترمنځ پیښه شوه، محمد زمان ونیول شو او کابل ته را واستول شو. دربار کې و منل شو او بابر له خپلې کورنۍ څخه یو نجلۍ ورته واده کړه او د بلخ حکومت یې هم ورکړ او محمد زمان له هغه وروسته بابر سره وفا دار پاتې شو. په دې توګه د سلطان حسین له مړینې وروسته په لنډه موده کې یعنې د یوولسو کالو په ترڅ کې د ګورګانیانو یو ځواکمن دولت په افغانستان کې له ریښو څخه ووت.

## د ګورګاني دولت پر مهال د افغانستان ټولنیز وضعیت

په افغانستان کې د ګورګاني دولت عمر له ۱۳۸۰ څخه پیل او تر ۱۵۰۲ پورې یعنې له ۱۲۰ کلونو څخه زیات شو. (۲۰ وروستي کلونه یې د اروپائیانو په اصطلاح) د نړۍ د تاریخ له نویو پیړیو سره برابر و. د نړۍ د تاریخ په همدغه نوی پیړۍ (۱۴۵۳) کې قسطنطنیه د عثماني نوي نسل په لاسونو ونیول شوه او د بیزانس هنرمنده عیسویان چې د لرغوني تمدن یو منجمد یادګار و، له خپلو کتابونو، مجسمو او ښکلیو پردو سره اروپا ته و تښتیدل.

اروپائیانو چې مخکې یې د قطب نما او باروتو استعمالول له آسیا څخه زده کړي وو، دادي په همدې نوی پیړۍ (۱۴۵۵) کې یې د چاپ صنعت رامنځته او په علومو او معارف خپرولو کې مخکې شول او د

Scanned by CamScanner

پخوانیو علومو په نشر کې یې اوچت ګامونه پورته کړل له دې امله چې په قسطنطنیه باندې د عثماني دولت واکمني د ختیځ او لویدیځ ترمنځ د سوداګرۍ لرغوني لارې وتړلې. نو د ختیځ مالونو ته د لویدیځ والو اړتیا دوی اړ کړل چې نوې نوې لارې پیدا کړي چې په پای کې لویدیځ والو لرې ختیځ، هندوستان او بیا امریکا د سمندر له لارې و موندله. حال دا چې وروسته تر رنسانس څخه لا ایتالیا او یو شمیر نامتو هنرمندانو لکه میکلانژ، لیونارد داونسي او رفایل په فرانسه، انګلستان، هالند او آلمان کې ادبي او هنري آثار را منځته او و پیژندل شول. په دې توګه په اروپا کې د پخوانیو زړو فیوډالانو د نا محدوده ځواک پر ځای د اروپا د دولتونو ټینګیدل او مرکزیت ځای و موند او د لوتر مذهبي اصلاحات او د مذهبي آزادي په هکله د نانت فرمان نشر شو. دا څکه اروپا له دولسمې یا دیارلسمې پیړۍ راهیسې یعني له هغه راهیسې چې د اسلامي هېوادونو تمدن ځای پر ځای و درید او ورو ورو له منځه ته، نو اروپا په فکري غورځنګ، صنعتي انقلاب او اقتصادي بدلون باندې پیل وکړ، او هغې اروپا چې تر دولسمې پیړۍ پورې ایمان تر عقل څخه اوچت باله، په دیارلسمه پیړۍ کې یې د فلسفې نظریاتو د لومړیتوب هر کلی وکړ. له بلې خوا ورو ورو بورژوازي طبقه را منځته شوه او په ښارونو واکمنه شوه او په پای کې یې و کولای شول چې د سوداګرۍ آزادي را منځته کړي. په پنځلسمه پیړۍ کې په اقتصادي ډګر کې بورژوازی تر فیوډالانو څخه مهم دریځ وموند او ورو ورو سلطنت ځواکمن شو. دغه سیاسي او اقتصادي بدلونونه له جغرافیایي کشفیاتو او نویو اختراعاتو سره یو ځای شول، تر شپاړسمې پیړۍ پورې علومو او فنونو ښه پرمختګ وکړ او په اروپا کې ملي ژبه او ادب را څرګند شو، ورو ورو سکولاستیك له منځه ولاړ. دا ټولې هغه مهمې پیښې دي چې د اروپا له نظره یې منځنۍ پیړۍ له نویو پیړیو څخه جلا کړې. دا څکه چې په منځنیو پیړیو کې فیوډال په جګړه اخته و او د علمي تفکر فرصت یې نه درلود، خو روحانیون آرامه او هوسا وو (لکه هماغسې چې د لرغوني یونان د منځنۍ طبقې او شتمنو خلکو د غلامانو له کار کولو څخه ډوډۍ خوړله او علومو ته یې وخت درلود او علوم یې پالل او ځان څخه یې یو شمیر آثار پرېښودل) نو په اروپا کې هم روحانیون په علمي او فلسفي تفکر بوخت وو، خو تفکر یې محدود او جامد و او په انحصاري توګه د مذهب په خدمت کې و. البته ختیز روم چې لا هم د ارسطو یو څه علمي میراثونه ور سره وو، تر پنځلسمې پیړۍ پورې عمر وکړ، خو په پای کې ختیز روم هم د ختیځوالو په وړاندې و نه درید. د اروپا خلکو په منځنیو پیړیو کې په جهل او تورتم کې ژوند کاو او خرافات او ظلم وربانديې واکمن و.

خو منځنۍ پیړۍ د اسلامي ختیز لپاره د اروپا د منځنیو پیړیو مفهوم نه درلود، دا څکه چې منځنۍ پیړۍ په ختیز کې د اسلامي هېوادونو لپاره د تمدن او فرهنګ د پرمختګ ډېر غوره مثال و. آن دا چې اسپانیا هم نظر نورې اروپا ته د تمدن له پلوه مخکې وه. البته په افغانستان او منځنۍ آسیا او نژدې ختیځ کې د مغلو یرغل په دیارلسمه پیړۍ کې اسلامي تمدن له پښو وغورځاو. خو بیا هم افغانستان یو ځل بیا پاځید او له څوارلسمې پیړۍ څخه یې د شپاړسمې پیړۍ تر پیل پورې د ګورګاني فرهنګ وده په ټوله منځنۍ آسیا کې رامنځته کړه، خو وروسته له هغه چې ګورګاني دولت دلته له منځه ولاړ

آثار یې په صفوي ایران او بابري هند کې تر نویو پیړیو پورې پاتې وو او اصفهان او ډیلي د هرات په قدمونو قدم کېښود او په ټولنیزو چارو کې یې پرمختګ ته دوام ورکړ، آن دا چې یو فرانسوي پوه وایي چې د عثماني ترکیې د فرهنګ ریښه هم د تیمور په مدنیت کې وه.

افغانستان چې تر دولسمې پیړۍ پورې د فرهنګ له پلوه د نړۍ یو وتلی هېواد و، په دیارلسمه پیړۍ کې د مغلو تر یرغل لاندې د نړۍ په یوه ډېر خراب هېواد بدل شو. له هغه وروسته افغانستان تر څوارلسمې پیړۍ پورې د خپل ژوند د پرمختګ او ښه کولو په خاطر ډېرې هڅې او هلې ځلې وکړې، خو په څوارلسمه پیړۍ کې یې یو بیساری پرمختګ په برخه شو او خپل له لاسه وتلی فرهنګ او پرتم یې بیرته تر لاسه کړ. د هېواد د خلکو استعداد (د تاریخ په دوره کې) دا وس او توان درلود چې ټول شپانه یرغلګر په خپل کلتور کې حل کړي او د هغوی ځواک بیرته د خپل کلتور او فرهنګ په دفاع کې وکاروي، د بېلګې په توګه د ترک عنصر او له هغې جملې څخه ګورګاني ځواکونو په افغانستان او منځنۍ آسیا کې د کلتور، فرهنګ او ادب په برخه کې ځلانده خدمتونه وکړل.

امیر تیمور چې خپل ټول ژوند په جګړه او د هېوادونو په نیولو تیر کړ، نو د کلتور او فرهنګ ترقي ته یې وخت پیدا نه کړ، که څه پاملرنه یې هم وکړه هغه یوازې په مذهبي بحثونو او فقهاوو پورې تړلې وو خو د هغه ځای ناستي په افغانستان کې چې نیمه پیړۍ په واک کې وو، پوره وخت درلود چې په یوه سوله ییزه فضا کې د معارف او پوهې په خپرولو کې پاملرنه وکړي، په تیره بیا چې د هغه زړۍ د کرت د دولت د یوې نیمې پیړۍ د۶دورې په ترڅ کې وده کړې وه او همدارنګه د تیمور پر مهال د هېواد سیاسي یووالی هم ډاډمن شوی و. همدارنګه د شهرخ اولادونه په افغانستان کې ټول هنر دوست خلک وو. د شهرخ ښځه ملکه ګوهر شاد او د هغه زوی مرزا بایسنقر په دغه برخه کې د ډېرې یادونې وړ دي، په تیره بیا سلطان حسین مرزا چې پوره ۳۷ کاله یې سلطنت وکړ په خپله یو فاضل شخص و او یو شمیر فاضل او نامتو خلک لکه جامي او نوایي د همده پر مهال اوسیدل. ددغه مقتدر او مستبد پاچا د ملګرتوب، همکارۍ او قدر پېژندنې داستان له امیر علیشیرنوایي سره او عبدالرحمن جامي ته د امیر علیشیر نوایي درناوی او د هغه صمیمانه درناوی او اخلاص هم د یادونې وړ دی.

په عمومي توګه افغانستان په پنځلسمه پیړۍ کې په منځنۍ آسیا کې د اقتصاد او فرهنګ په ډګر کې یو مهم مرکز ګرځیدلی و. د رستم د بند ویجاړیدو سره سره چې د هلمند ټوله حوزه وچه شوه، بیا هم کرنه، پیشه وري او اوبه لګول د هېواد په نورو سیمو کې د غوړیدو په حال کې وو. سره له دې چې د فیوډالي مناسباتو وده په خپل حال روانه وه او پراخه او زرخیزه ځمکې د فیوډالانو په اقطاع او تیول کې ورکول کیدې او لویو ځمکو ورو ورو میراثي بڼه غوره کوله او په دې صورت کې د بزګر تړلتیا له فیوډال سره نوره کلکه کیده او د بزګرانو له واک څخه ځمکه ووتله، خو په افغانستان کې سوداګرۍ لا هم خپله پرمختیا او غوړیدا ساتلې وه، سره له دې چې ورو ورو د وچې لارو خپل ارزښت له لاسه ورکاو او وار په وار سمندري لارې پېژندل کیدې، خو بیا هم افغانستان خپلو ګاونډیو هېوادونو لکه ماورالنهر، ترکستان، ایران او هندوستان سره په پراخه اندازه سوداګریزې اړیکې درلودې. همدارنګه

Scanned by CamScanner

له چین سره هم سوداګریزې اړیکې پراخه وې. په هغه مهال په افغانستان کې مسکوک پولي واحد د سپینو زرو و چې یو مثقال وزن یې درلود دا و (شهرخي) بلل کید. چې وروسته بیا (تنګچه) په همدې یو مثقال وزن سره په مسکوک ډول د هغې ځای ونیو. د تنګچې نور اجزا دینارو او شپږ کپکی دیناره یوه تنګچه کیدل.

په دغه دوره کې د افغانستان فرهنګ سره له دې چې له فلسفي پلوه جامد او وچ کلك پر ځای ولاړ و، او د مغلو څخه د مخکنۍ دورې تر بریده و نه رسید، خو بیا هم دا لومړی ځل و چې د مغلو له تاړاك او یرغل وروسته یې لږ څه ښه نیولی وه، چې افغانستان په منځنۍ آسیا کې یو فرهنګي مرکز ګرځیدلی و او ګڼ شمیر استادان، پوهان، هنرمندان او ادیبان له ماورالنهر، ایران او هندوستان څخه د هرات ښار ته را ټول شوي وو او د هرات مکتب ددغو هېوادونو فرهنګي مثال ګرځیدلی و. د پلازمینې عالیه مدارس د هغو له دانشمندو استادانو او لوړو موقوفاتو سره فعال وو او په دغو مدرسو کې یوولس زره زده کوونکو لوست کاو، دا په هغه مهال کې چې لا په اروپا کې تحصیلاتو خصوصي او اشرافي بڼه درلوده یو ډیر ارزښتمن کار و. د لوړو زده کړو په نصاب کې صرف او نحو، حدث او تفسیر، فقه او اصول، منطق او مشائي او اشراقي حکمت، طبیعیا او ریاضي شامل وو. البته د تحصیلي مراحلو په تیرولو کې د بحث آزادي، کره کتنه او د شخصي عقیدې څرګندول منع و. ټاکلی کتابونه تدریس کیدل او د پخوانیو په کلام قناعت کول کافي و، د شیخانو ویناوې او مذهبي تاویلات د منطق او استدلال ځای نیولی و، د ښځې د تعلیم او باسواده کیدو مخه نیول کیده. ددغې دورې نامتو دانشمند جلال الدین دوایي په خپل نامتو کتاب (اخلاق جلالي) کې د ښځې په هکله د (لمعه سوم در سیاست اهل) تر عنوان لاندې لیکلي و: (میره باید د ښځې په وړاندې ځان ویروونکی وښیي ترڅو د هغه له اوامرو سر و نه غړوي او د هغه اطاعت وکړي... که یې ښځې سره محبت پیدا شو هغه دې پټ کړي... په چارو کې دې ښځې سره مشوره نه کوي او په خپلو اسرارو او مال بآندې دې هغه نه خبر وي او له هغې څخه دې پټ وساتي... ښځې باید د نارینه وو له لیدو کتو او هغو ته له غوږ نیولو څخه منع شي. کوندهاو زوی لرونکی ښځه دې نه ودوي او له مالداره ښځې سره به هم واده نه کوي.)

دغه لیکنه د هغه مهال د ښځو دریځ څرګندوي چې په څه ډول سره په بند او قید کې وه. روزنه ټوله د مذهبي احکامو پر بنسټ ولاړه وه، د ټولنې او د ژوند په ټولو چارو باندې مذهب واك چلاو. له فساد او فحشا څخه د نفس ساتنه له دولت څخه په تابعداري پورې تړلې وه، د ښوونې او روزنې موخه هم د فساد او فحشا مخنیوی و چې دغه ډول روزنه ټوله د زجر او سیاست په سیوري کې تر سره کیدله.

ادبیات، طب، تاریخ او نجوم زیاتره د ممتازو طبقاتو لپاره د منلو وړ و، خو ادبیاتو ئور نو د مغلو له تاړاکه او یرغل څخه د مخکې دورې په اندازه تازګې، نشاط او هیجان پاروونکی روح نه درلود، دا ځکه چې د مغلو د دورې وحشت، ظلم فقر او فشار د افغانستان په وګړو باندې ژوره اغیزه کړې وه چې مولود یې ستوماني، نا امیدي، سپکاوی او د دنیا او آخرت د کمې احساس او یواځې عقبی ته پاملرنه وه. خرافات، اوهام، په جادو باندې عقیده، نذر او نیاز روند تعصب او وچ زهد هم د هماغې دورې

Scanned by CamScanner

میراث و، نو د بیا ژوندي کیدو په پړاو کې همدا روحیه را غبرګه شوه. د دري ژبې په نظم او نثر کې له دنیا څخه زړه شکول، تسلیم او رضا او صبر ته توصیه انقیاد او تملق او شداید و او سختیو ته غاړه تسلیم کول د پند او اندرز په بڼو راغلي وو. دري نثر پیچلي شو. استعار، کنایه او نامانوس ثقیل لغتونه رواج شول او جملات اوږده او له حشوې او زوایدو څخه ډك شول. دغه ادبي ناروغي یواځې په افغانستان کې نه، بلکې په ایران، کوچنۍ آسیا او هندوستان کې هم خپره شوه د هرات مکتب په ادبیاتو کې نامتو استازي درلودل چې په خپل وخت کې ممتاز او پیژندل شوي وو لکه معین الدین حسین، کاشفي واعظ په دري نثر کې او نور الدین عبدالرحمن جامي او میر علیشیر نوایي په نظم کې یادولای شو. مولانا جامي د خپل زمان ډیر اوچت لیکوال او شاعر و، دغه صوفي په تصوف او ادب کې د علیشیر نوایي پیشوا او لاربښودو هغه بیلا بیل اثار ولیکل لکه هفت اورنګ، سبحته الابرار، یوسف زلیخا، لیلا مجنون، خسرونامه، نفحات الانس، سلامان او ابسال، شرح ملا بهارستان او نور. جامي په ۱۴۹۵ کال کې ومړ. میر علیشیر نوایي یچې په واقعیت کې د چغتایي ادبیاتو موسس او د راتلونکو ترکي ادبیاتو یوه اغیزمنه څیره وه، دوی دواړه د خپل مهال مخکښان وو. نوایي په دري او ترکي ژبو باندې په نظم او نثر کې ۲۹ آثار ولیکل. میر علي شیر نوایي د سلطان حسین مرزا نژدې او کلك ملګری او وزیر و. پراخه ځمکې یې درلودې چې د یوې ورځې حاصلات یې ۷۵ زرد دیناره کیدل (چې ۱۲۵۰۰ شهرخي سره برابر و) له دې امله چې دده کور د افغانستان، ماوراالنهر، ترکستان ایران او کوچنۍ آسیا د هنرمندانو، ادیبانو او علماوو د را ټولیدو ځای و، نو ځکه یې د یوې ورځې لګښت پنځلس زره دیناره ته رسید، نور پاتې عواید یې د علماوو فرهنګ په خپرولو او د مدرسو، چلولو، پراوونو، ویالو، جوماتونو او نورو خیریه چارو کې لګیدل. هغه دیرش کاله په دغه لاره کې خدمت وکړ او ۳۷۰ خیریه چارې یې تر سره کړې چې د هغو یو شمیر آثار لا پاتې دي. د بېلګې په توګه خوند میر لیکي: د عامه چارو (امور جمهور) په وړاندې یې هیڅ مزد نه اخیست او نهي ي په چا منت اینښود، ددې لپاره چې د معاش (خوراکي اړتیاوو) له کمښت سره مخامخ نشي، نو سلطان حسین امر وکړ چې هغه دې په خپل شخصي زراعت لاس پورې کړي. هغه د کرنې په برخه کې له شریعت سره سم چلند کاو او ډیره ګټه یې تر لاسه کوله. دلته بل ځای میر خوند لیکي: «... د دغه نعمت له عوایدو څخه کمه اندازه یې خپل خوراك او جامو ته جلا کول او نور پاتې یې نور په خیریه چارو او د بقاع په ودانولو لګول کیدل...» مولانا لطیفي او مولانا بینایي او خواجه آصفي او امیر شیخم سهیلي هم د هرات نامتو شاعران وو.

په افغانستان کې تاریخ لیکنه هم په همدې مهال کې وده وکړه چې نامتو استازي یې میر خوند او خوند میر دي چې د روضته الصفا او حبیب السیر په نومونو یې تاریخونه لیکلي. ښکلي لیك دومره پر مخ تللی و چې مثلاً مولانا معروف کاتب په یوه ورځ کې ۱۵۰۰ بیتونه (چې ۱۵۰۰ کرښې کیدل) لیکنه کوله. د خوشنویسي او ښکلي لیك فن او د کتابونو د تذهیب او تجلید هنر ښه پر مخ تللی و. همدا لامل و چې د ګڼ شمیر پوهانو په کار او کړاو سره ګڼ شمیر خطاطان او مذهبان، صحفان او انځورګر او د زرګونو خطي نسخو خطاطان له افغانستان څخه شاوخوا نورو هیوادو ته خپریدل. په هرات کې قیمتي

کتابتونونه جوړ شوي وو، هنرمندانو د قلمداني او مشوانۍ په جوړولو کې هم هومره خواري او کار کاو لکه څومره چې یې د کتابونو په تذهیب او تجلید کې کوله. لنډه دا چې د افغانستان د دغه ادبي مکتب وړانګې وې چې له هرات څخه تر ایران، ماورالنهر، هند او اسلامبول پورې خپرې شوې وې.

د هنر او ادب ترڅنګ (اسلامي عرفان) هم په افغانستان کې بیا ژوند موندلای و، عرفان چې د مغلو له تاړاك او یرغل څخه مخکې د مستبدو دولتونو او فقهاوو تر زور لاندې خپل سرغړاندي اړخونه له لاسه ورکړي و، د مغلو پر مهال بیخي له لارې کاږه شوي وو او عرفاوو دنیا پرېښې وه. ژوند یې په انزوا کې شوی و او له خلکو ګوښه شوي و، ځینو نورو شیادي او قلندري او مفتخوري تصوف باله (یعنی تصوف له واقعي معنا څخه لرې شوی و)، دغې طریقې د مغول په ټول دوران کې دوام وکړ ترڅو چې په څوارلسمه پیړۍ کې نامتو صوفي (خاجه بها الدین محمد بن محمد بخارایي) (۱۳۸۸ مړ) پاڅون وکړ.

هغه د پخوانیو صوفیانو طریقه او مشرب او سرکش تصوف له نوي سره یو ځای کړ او دا شعار یې وټاکه چې: (خلوت در انجمن و سفر در وطن) ددې معنا دا وه چې هغه د دنیا د ترك او پرېښودو پر ځای، په ټولنه کې د صوفي ناسته پاسته را مخکې کړه او له خلکو سره دوستي یې د صوفي له شخصي ژوند څخه غوره و بلله سره له دې چې د خواجه بها الدین نقشبندیه (شاه نقشبند) طریقې د هغه د ټولنیز ژوند تر شرایطو لاندې د مغلو له دورې څخه د مخکې عرفاوو د (وحدت وجودي) د طریقې او له هغه وروسته اوولسمې پیړۍ بعد د (وحدت شهودي) د عرفاوو د طریقې ترمنځ ځای درلود، خو بیا هم عمل اړخ یې اوچت و، ددغې طریقې ډېر نامتو پیروان په افغانستان کې دا وو: نور الدین عبدالرحمن جامي، میر علیشیر نوایي. چې لومړني یې د فقر او تقوا په جامه کې د فرهنګ او نیکو اخلاقو په خپرولو کې اګمونه اوچت کړل او دا بل دوهم یې د امارت او ریاست له لارې د معارف د عاملو په برخه کې کار وکړ.

په افغانستان کې د نقشبندیه دغې صوفیه طریقې د اوولسمې پیړۍ تر لومړیو پورې دوام درلود، ترڅو چې د افغانستان یو بل نامتو (شیخ احمد مجددي) په هندوستان کې پاڅید او په نقشبندیه تصوف کې یې یو بل نوی مکتب پرانیست. دغه شیخ په امام مجدد الف ثاني سرهندي باندې یادېږي. د هغه (مکتوبات) کتاب یو ډېر نامتو کتاب دی هغه د پخوانیو عارفانو (وحدت وجودي) نظریه باطله اعلان کړه او وېې ویل چې دغه نظریه د صوفیانو او سوفسطائیه مذهب ډوله یو له مخالطاتو څخه ده، نو ځکه هغه د وحدت وجودي (هر څه هغه دی) پر ځای نوی نظریه (وحدت شهودي) یعنی (هر څه د هغه دي) وړاندې کړه. له هغه څخه وروسته په افغانستان کې هم دغه نوی نظریه پراخه شوه او پخوانی تصوف یې د شریعت په ظواهرو کې راوست او ورو ورو د افغانستان صوفیان هم د فقهاوو په کتارکې ودریدل. د نورو ټولنیزو چارو ترڅنګ په افغنستان کې صنعت او هنر هم د ګورګانیانو پر مهال ښه و غوړېد: د اوبدلو صنایع، په تیره بیا د انځور رونکی نساجي، فلزکاري، ودانۍ جوړول، کاشیکاري او انځور ګري او نور هنرونه او صنایع پر مخ ولاړل. د ښکلیو صنایعو ترڅنګ موسیقي هم لوړ دریځ موندلی و، استاد حسن نایي د موسیقي د لومړۍ درجه استادانو له جملې څخه و چې د میر علیشیر پر مهال یې

Scanned by CamScanner

ژوند کاو. آن دا چې میر هم د موسیقي د آهنګونو په تصنیف کې مهارت درلود.

د افغانستان په انځور ګري او رسامي کې په هغه مهال کې یو نوی سبک را منځته شو چې ورو سته بیا دغه سبک په (چیني سبك) سره یادید سره له دې چې دغه سبک کټ مټ چیني سبك نه و. خو د چین له هنر څخه څه نا څه اغېزمن و. د بیلګې په توګه دغه اغیزه خو پیړۍ مخکې هم د بودايي افغانستان په انځور ګریو کې تر سترګو کېده. په تېره بیا د ګورګانیانو پر مهال له چین سره د افغانستان هنري، سیاسي او فرهنګي اړیکې نوې شوې. د بېلګې په توګه په ۱۴۱۹ کې د شهرخ استازي او تیموري شهزاده ګان د (شادي خواجه) تر مشرۍ لاندې یو پلاوی د مینګ د امپراتور دربار ته ورغلل دغه امپراتور له څوارلسمې پېړۍ څخه وروسته په چین کې د مغلو د امپراتورۍ ځای نیولی و. دغه پلاوي د پیکنګ پلازمېنه وکتله. ددغه پلاوي په غړو کې مهم غړی خواجه غیاث الدین هراتي انځور ګر هم و چې د شهرخ د زوی مرزا بایسنقر په استازیتوب هلته ولاړ. نوموړي د پیکنګ د دربار تولې صنعتي ښیګڼې او منظرې ولیدلې او ددغه پلاوي یوه لیك یې هم لیکلی و. ددغه پلاوي نور غړي تاج الدین بدخشي و چې د بدخشان د سیمه ییز امیر شاه ملك په استازیتوب تللی و، همدارنګه (جاتون) او د سلطان احمد مرزا استازی و او (اردوان) او (ارغداق) او نور.

طبیعي خبره ده چې داسې یو انځور لکه غیاث الدین چې کله چین ته ورځي او هلته پنځه میاشتې د امپراتور په دربار کې پاتې کېږي، نو امکان نه لري چې د چین انځور ګرۍ له پامه و غورځوي او بیا دې هغه اغېزه په خپل هېواد کې هیره کړي. دغه هیئت چې د ۸۲۲ هـ کال د ذي العقدې په شپاړسمه (۱۴۱۹م کې) له هرات څخه سمرقند ته او له هغه ځایه بیا چین ته ولاړ او تر یوه کال سفر څخه وروسته پلازمېنې پیکنګ ته د (خان بالیغ) دربار ته ور ورسیدل او هلته پنځه میاشتې د امپراتور په دربار کې پاتې شول. د هغو سوغاتونو په لړ کې چې دغه پلاوي امپراتور ته وړاندې کړل یو هم داسې یو آس و چې تور رنګ او پنځه سپین تاپې یې لرل یعنی څلور پښې او تندي یې سپین و نور تور و. دغه آس د امپراتور ډېر زیات خوښ شو او یوه ورځ خپله ورباندې سپور شو، خو اس ناغیرۍ وکړه او امپراتور یې وغورځاوه خپه شو. هغه له پلاوي څخه ددغه ناغیره آس په هکله پوښتنه وکړه، نو د شهرخ استازي ځواب ورکړ چې له دې امله چې دغه آس په خپله د امیر تیمور ګورګان د سورلۍ ځانګړی آس و. نو شهرخ و غوښتل چې د امپراتور په غوجل کې پاتې شي.

په هر حال، پلاوي په چین کې د اوسیدو پر مهال د هغه ځای لښکر، د ښار پرتم او د پیکنګ ښکلا ولیده او د چین له اردو سره یې لاندنې وسلې ولیدلې: ناخچ، دورباش، زوبین، حربه (دوه اړخ لرونکې چړې)، پولادي خښته، تبرزین، نیزه، توره او ګرز. په عسکري موزیك کې یې لاندې سامانونه ولیدل ډول، ډمامه، سنج، شپیلۍ او ناقوس، د پلاوي په کوټو کې دا شیان ایښي وو: اطلس او کمخواب بالښتونه، صندلي، نغرۍ او دیګی، چاړه او کاچوغې. د عالي او حاکمه طبقې خوراکونه دا ډول وو: د پسه، زانې او چرګ غوښه، اوړه، وریجې، حلوا، شات، هوږه، پیاز، مالګه نقل او اړوب.

د افغانستان انځوګرۍ کې هغه اغېزه چې له چیني انځور ګرۍ څخه تر سترګو کېده، هغې څخه د ختیځ

Scanned by CamScanner

یو نامتو او ښکلی سبک جوړ شوی و په دغه مهال کې نامتو هنرمندانو څخه دا وو استاد بهزاد، میرعلي، سلطان محمد او سلطان علي چې یو یې هم د اروپا د رنسانس د دورې له هنرمندانو څخه کم نه و. د افغانستان ددغې دورې په معماري او ودانۍ جوړولو کې یو ښکلی سبک را منځته شوی و چې د چیني، هندي، مصري، عربي او اسپانیا له ودانۍ جوړولو سره یې بشپړ توپیر درلود او له هغو تولو څخه خپلواک و. خو د سیاسي او نظامي ناخوالو له امله نن ورځ د هغو هیڅ نښه نه ده پاتې یواځې د یو څو بقاع، څلیو او مصلاوو کنډوالې را پاتې دي. خو یواځنۍ نښه چې پاتې ده هغه په بلخ کې «مزار شریف» دی چې په ۱۴۸۰ کې د سلطان حسین پر مهال جوړ شوی دی یو سړي چې شمس الدین محمد نومید او خان یې نامتو صوفي شیخ بایزید بسطامي ته منسوب باله. یو نامؤثقه کتاب یې سلطان حسین ته ور وښود او ورته ویې ویل چې دغه کتاب د شمالي افغانستان د پاچا سلطان سنجر سلجوقي پر مهال لیکل شوی دی او ددغه کتاب په وینا د امیر المومنین علي بن ابي طالب مزار باید د بلخ د خواجه خیران په کلي کې وي له دې امله چې له تاریخي پلوه ددې روایت صحت مشکوک و. نو څکه کله چې سلطان حسین له هرات څخه بلخ ته ولاړ، نو د خواجه خیران کلي یې وپلټه او هلته یې یو ډېرین لیک او یو ګنبدي قبر ولید، په دغه ډېره باندې لاندنۍ عبارت لیکل شوی و «هذا قبر اسد الله اخ رسول الله علي ولي الله» سره له دې چې تاریخ داسې یو څه نه تصدیق کوي. خو بیا هم سلطان حسین امر وکړ چې په دغه قبر باندې دې اوسنۍ ودانۍ جوړه شي، وروسته بیا بازار جوړ شو او د یوه حمام بنسټ هم هلته کېښودل شو. سلطان «نهر شاهي» هم په دغه نوي مزار باندې وقف کړ او سید تاج الدین حسن اند خویي یې هلته نقیب کړ او هماغه شمس الدین محمد «شیخ زاده بسطامي» یې د مزار شیخ وټاکل او د دغه زیارت موقوفاتو ته یې یو شمیر کارکوونکي هم وګومارل. له هغه څخه وروسته د خواجه خیران د کلي نوم د مزارشریف په ښار بدل شو او ورو ورو نور هم پراخ او آباد شو او د پخواني بلخ پر ځای ددغه ولایت مرکز وګرځید. په دې ترڅ کې شیخ زاده بسطامي هغه څه چې غوښتل هغه یې ترلاسه کړل. یعنی روحاني مقام یې وګاټه او له نذرونو اخیستو څخه یې هم ډېر شته تر لاسه کړل

Scanned by CamScanner

# یوولسم څپرکی

## د بهرنیو دولتونو د اغیز له امله د هېواد انحطاط او تجزیه او د افغانستان د خلکو مبارزه

### (له شپاړسمې میلادي پېړۍ څخه تر اتلسمې پېړۍ پورې)

د شپاړسمې پېړۍ له پیل څخه هغه کومې سیاسي پېښې چې د افغانستان دننه او شاوخوا ګاونډیو هېوادو کې وشوې، ټولې د افغانستان په زیان وې. د هېواد دننه په ۱۵۰۵ کې وروسته د سلطان حسین له مړینې یعنی د شپاړسمې پېړۍ له پیل څخه دولت خپل مرکزیت او اداري ځواك له لاسه ورکړ او سیمه ییزو ځواکمنو فیوډالانو او تجزیه غوښتونکو له هر لوري څخه را پورته شول او یو بل سره اخته شول په ۱۵۰۰ کې په ماورالنهر کې شیباني دولت او په ۱۵۰۲ کې په ایران کې صفوي دولت او په ۱۵۲۵ کې په هندوستان کې بابري دولت جوړ شو. دغو نویو جوړو شویو دولتونو له شمال، لویدیځ او ختیځ څخه لاسوهنې پیل کړې او په پای کې یې هېواد په شمالي، غربي او شرقي درې برخو باندې وویش. شیباني دولت په شمال ولایتونو، صفوي دولت په لویدیزو او بابري دولت په ختیزو ولایتونو واکمن شول د پردیو دغه واکمني له ۱۵۰۲ څخه وروسته تر ۱۷۰۸ او تر ۱۷۱۲ پورې په لویدیزو ولایتونو کې او تر ۱۷۴۷ پورې په ختیزو ولایتونو کې څه نا څه دوه پېړۍ اوږده شوه.
په دغه موده کې په افغانستان کې یو سراسري دولت نه و، نو ځکه اقتصادي مرکزیت او عمومي معارف له منځه ولاړل، د سیاسي یووالي نشتوالی او د بهرنیو یو بل سره مخالفو دولتونو اداري د افغانستان د ملي یووالي جرړې له بیخه وکارلې، آن دا چې په ګاونډیو هېوادو کې یې د افغانستان د حل کیدو ګوانښ را پیښ کړ. له دې امله چې بهرنیو یرغل کوونکو هر یوه په ماورالنهر، هندوستان او ایران کې خپل خپلواك مرکزونه لرل، نو ځکه په افغانستان کې د دوی په لاس نیول شویو ولایتونو د ډیرو لږي تابع کړل شویو سیمو حیثیت درلود او یواځې مالیه یې ورکوله او د هغوی د حاکمانو لګښتونه یې ګالل، یعنی افغانستان دغو پردیو ځواکونو ته د لګښت په ورکولو او د زیان په منلو سره پرته له نظامي کلاوو او سوق الجیشي استحکاماتو او جنګي وسایلو نور څه تر لاسه نه کړل. له دې پرته ددغو دریو دولتونو له دښمنۍ څخه د ډکو یرغلونو ترڅنګ، افغانستان ددغو دریو اړو یرغلګرو خپل منځي جګړې هم زغملې. په داسې حال کې چې د افغانستان کلتور او تمدن ورځ په ورځ مخ په ځوړ روان

و او لوی ښارونه یې په کلیو بدلیدل، همدومره هم په اصفهان، سمرقند. بخارا او ډیلي کې نوي لوی لوی سیاسي او علمي مرکزونه او ښارونه آباد شول. سره له دې چې په شمال لویدیز کې د شهید ښار له مذهبي پلوه د ایران د صفوي دولت تر پاملرنې لاندې او همداسې هم په بلخ کې یو نیم ازبک حاکم یوه نیمه مدرسه او تعلیمي مرکز جوړ کړ او بابري دولت هم په کابل او کندهار کې یو نیم جومات او بن جوړ کړل، خو په عمومي توګه تجزیه شوی افغانستان نور پنځلسمې پیړۍ د ملي یووالي او سیاسي وحدت، تمدن او کلتور له پلوه محروم شوی و. د افغانستان دغه انحطاط له سیاسي پلوه تر اتلسمې پیړۍ پورې او له اقتصادي او فرهنګي پلوه تر شلمې پیړۍ پورې تر سترګو کید. په پایله کې هېواد د خپل ټولنیز پرمختګ په تګلوري کې د نړۍ د ټولو خوځنده او ژوندیو ملتونو په پرتله وروسته پاتې شو.

Scanned by CamScanner

# لومړی
# افغانستان او د ماوراالنهر شیباني دولت

ازبکان په اصل کې نایمن او قبچاق قبایلو پورې تړلي دي او وروسته تر هغه یې چې په څوارلسمه پیړۍ کې ازبك خان امیر (اردوي مطلا) تر مشري لاندې د اسلام دین قبول کړ. نو ځان ته یې له نورو قبایلو د جلا کولو په خاطر ازبك نوم غوره کړ. ازبکان په پنځلسمه پیړۍ کې سره یو شول او د نورو قبایلو ځینې برخې یې لاندې کړې او د ارال له غاړو څخه مخ په جنوب و خوځېدل. دوی د جیحون وروستیو برخو کې له چغتائیانو سره یو ځای شول او یو بل جلا قوم یې جوړ کړ او په دوی کې چې هره بله قبیله لکه قرغز، قزاق او نورو. ټول یې ځانونو سره را ګډ کړل او ورو ورو په یو لوی ځواك بدل شول.

محمد خان شیباني د چنګیزخان د زوی جوجي له اولادونو څخه و چې یو زړور سړی و او دده کورنۍ په سایبریا کې واکمنه وه او په خپله د ازبکانو د مشر په توګه په پنځلسمه پیړۍ کې ماوراالنهر ته نتون هغه په دې پوهید چې د سلطان ابو سعید ګورګاني له مړینې وروسته (په ۱۴۶۸ کې د آذربایجان په جګړه کې) او په ماوراالنهر کې د ابو سعید د ځای ناستي سلطان احمد مرزا له ۲۵ کلنې واکنې وروسته، ورو ورو ماوراالنهر ضعیف شوی او دادی د سلطان احمد ځای ناستی سلطان محمود په ماوراالنهر کې دومره ځواك نه لري چې هېواد اداره کړي. په تیره بیا چې د افغانستان ګورګاني دولت هم د شهزاده ګانو په کورنیو جګړو کې وریت و او د ماوراالنهر د دفاع وس نه لري. په همداسې یو فرصت کې سلطان محمود مرزا په ۱۵۰۰ کې ومړ او د هغه درې ګونې زامن د پلار پر ځای په تخت د کیناستلو په سر یو بل سره ونښتل. نو همدا مهال محمد خان شیباني د ازبکو له یوه لښکر سره پاڅون وکړ او ماوراالنهر یې د تخت او تاج له دعوا کوونکو څخه ونیو او په خپله یې په ۱۵۰۰ کال کې شیباني پاچاهي اعلان کړه.

څلور کاله وروسته کټ مټ همدا پېښه په افغانستان کې وشوه. د سلطان حسین مرزا له مړینې وروسته د ګورګاني شهزاده ګانو ترمنځ د نفاق اور بل شو او محمد خان شیباني هماغه د ماوراالنهر عملیه په شمالي او لویدیز افغانستان کې عملي کړه. په پایله کې په ۱۵۰۲ کې بلخ ولایت او په ۱۵۰۷ کې اندخوي او مروچاق ونیول شول. وریسې یې له جګړو څخه وروسته بادغیس، هرات، مرو، مشهد او قاین ونیول او د افغانستان د ګورګانیانو دولت له منځه ولاړ. سره له دې چې شیباني کندهار ته د عبید الله سلطان په لیږلو سره وکولای شول چې کندهار هم ونیسي او د بابر ورور مرزا ناصر چې تازه په تازه په ۱۵۰۸ کې د هغه ولایت حاکم شوی و له واك څخه وغورځوي، خو هلته کلك نه شو، نو ځکه یې د کندهار چارې د بابر سیال او د کندهار د پخواني حاکم امیر ذوالنون زوی محمد مقیم ته وسپارلې او په

خپله بیرته مرو ته ستون شو. امیر سلطان علي ارغون د سیستان حاکم هم په لیکلي بڼه خپل اطاعت وښود. د ایران ګرګان په ۱۵۰۸ کې ونیول شو. محمد خان شیباني تر ۱۵۱۰ پورې په لسو کلونو کې خپل سلطنت له سمرقند او تاشکند څخه په ټول ماورالنهر کې کلك کړ او تیموري واکمنان یې لرې کړل په ماورالنهر کې یې بابر مرزای مشهور او د سلطان محمود مرزا اولادونه. په بلخ. فاریاب او بادغیس. هرات، مرو او مشهد، قاین او کلات کې یې د افغانستان ګورګاني سلطانین او شاهزاده ګان (بدیع الزمان او مظفر حسین) لرې کړل او په ایران کې یې دامغان او جرجان ونیول. خو په ګرمسیر. زمینداور او کندهار کې د هزاره او تکو دري خلکو د کلك موقعیت او د هغو د ډیر کلك مقاومت له امله و نه توانید چې پرمخ ولاړ شي. محمد خان شیباني د هرات حکومت جان وفا مرزا ته. د هرات وزارت یې خواجه ابوالوفا ته، د بلخ حکومت یې خرمشاه تیموري ته، د مشهد حکومت یې سیدهادي خواجه ته، د سمرقند حکومت یې محمد تیمور سلطان ته او د بخارا حکومت یې خپل زوی عبید الله سلطان ته وسپارل. محمد خان شیباني څو څو ځله د قبچاق د دښتو خواکونو ته هم ماتې ورکړه، خو په وروستي ځل په ۱۵۰۹ کې د قبچاق د دښتې د واکمن قاسم سلطان سره په جګړه کې له کلکې ماتې سره مخامخ شو او ډیر افسران یې له لاسه ورکړل. محمد خان چې په ۱۵۱۰ کې په ګرمسیر او زمینداور کې وروسته تر ماتې بیرته هرات ته راستون شوی او همدا چې خبر شو چې صفوي دولت زور اخیستی او د افغانستان د نیولو لپاره عسکر لیږي، نو هرات یې پریښود، مخ په مرو ولاړ. صفوي پاچا اسمعیل چې طوس. مشهد او سرخس نیولي وو مخ په مرو ورغی او په هغې جګړې کې چې د مروې د طاهر آباد په کلي کې دده او محمد شیباني ترمنځ وشوه شیباني لښکر مات شو او یو څه یې کلا بند شو. په دغه جګړه کې صفوي بریالی شو او شیباني و تښتید، خو محمد خان شیباني د تیښتې پر مهال د خپلو تښتیدونکو سپاهیانو تر پښو لاندې شو او مړ شو، په دې توګه مرو صفوي دولت ونیوله، خو سمدستي هرات، میمنه، فاریاب، جوزجان او بلخ د صفوي په لاس کې ولویدل. مرزا سلطان اویس د بدخشان والي هم خپل اطاعت څرګند کړ. خواجه کمال الدین محمود صفوي سفیر ته د محمد شیباني د اولادې (د سمرقند د واکمن تیمور سلطان، د بخارا واکمن عبید الله او د کرمینه د حاکم جاني بیګ) له خوا هر کلي وویل شو او دوی ټولو ورته ژمنه وکړه چې د جیحون په جنوب ولایتونو کومه دعوا نه لري، خو دغه ژمنه د لنډې مودې لپاره وه، د اتلسمې پیړۍ تر پای پورې د ماورالنهر ازبکي حکومت په شمالي افغانستان کې په خپلواك ډول پاتې و.

محمد خان شیباني ادیب سړی و او په ترکي ژبه کې یې شعرونه لیکل او قاضي اختیار الدین هروي ته یې ترکي نصاب منظوم کړ. دغه سړي په څو څو جګړو کې او د څو څو ماتې خوړولو په ترځ کې ازبکي دولت په ماور النهر کې کلك کړ. شیباني دولت له ۱۵۰۰ تر ۱۵۹۹ یعنی سل کاله دوام وکړ او په دې ترڅ کې دولسو ازبکي پاچایانو حکومت وچلاو، سمرقند د شیباني دولت پلازمینه وه، خو ځینې وختونه به بخارا تر سمرقند څخه مخکې وه. په خوارزم کې هم په ۱۵۱۵ کې یو خپلواك ازبکي دولت جوړ شو چې په نولسمه پیړۍ (۱۸۷۲) کې د روسیې تزاري دولت تر واکمن کیدو پورې په خپل ځای

پاتې و د شیباني دولت پر ځای جنیدي استراخاني دولت ټینګ شو چې د شیباني کورنۍ سره د ښځو خپلوی له امله خپلوان ګڼل کید، ددغه ځای ناستی دولت عمر یو څه اوږدو چې ۱۸۲ کاله یې وچلول (له ۱۵۹۹ تر ۱۷۸۵ پورې)، په دغه موده کې دولسو تنو نورو پاچاهي وکړه. دوی یو شمیر ودانیو او ادب ته پاملرنه وکړه او بخارا یې نوره هم ښه ابآده کړه او په بلخ کې یې هم مدرسه جوړه کړه، خو د هغو جګړو په ترڅ کې چې دوی د ایران له صفوي حکومت سره او د هندوستان له بابري دولت سره وکړې، نه یواځې دا چې د افغانستان پرمختیایي بهیر یې په ټپه ودراو، بلکې کرنه اقتصاد، آبادي، کلتور او هر څه یې پکې له منځه یوړل. د اداري له پلوه هم شمالي ولایتونه په کوچنیو برخو وویشل شول چې بلخ ته یې په داخلي خپلواکۍ سره اطاعت درلود او مالیات یې بلخ ته ورکول. د بلخ مرکز هم وخت ته په کتلو سره بیلا بیل چلندونه غوره کول. که چیرې شیباني او جنیدي دولتونه په سمرقند او بخارا کې پوره مرکزي واك درلودلای، نو دوی به هم ورته اطاعت درلودای، که نه پرته له هغه یې په خپلواکۍ ورل ډنګوله. د بیلګې په توګه ولي محمد خان جنیدي چې له ۱۵۹۸ څخه تر ۱۷۰۵ پورې د بلخ واکمن و، ندر محمد خان، سبحان قلیخان او عبد الله خان جنیدي چې هر یو د خپل دوران په ترڅ کې په بلخ کې خپلواك وو.

د بدخشان ولایت له بلخ څخه لا مخکې د سیمه ییزو امیرانو یا هم له ګورګاني دورې څخه د پاتې امیرانو په لاس اداره کید او خپله داخلي خپلواکي یې پرمخ بیوله. همداسې هم کابل، زابل، کندهار او پېښور هم همدا کانه کوله چې زیاتره د ګورګاني د کورنۍ امیران وربانديې واکمن وو، ترڅو چې بابریانو هندونیو او په سیده توګه یې دغه ولایتونه تر بابري اداري لاندې راوستل.

په هر حال د هېواد په شمال کې ازبکي حکومت کله نا کله په ټول افغانستان کې د خپل واك د ټینګولو په خاطر د افغانستان په نورو ولایتونو هم ور دانګل او کله کله به د بلخ په ساتنه اړ کیدل یعنی په هرات کې جنګونه پیښیدل، د بېلګې په توګه د محمد خان شیباني له مړینې وروسته په ۱۵۱۲ کې یو ځل بیا عبید الله سلطان او جاني بیګ خان په هرات باندې یرغل وکړ او د حصار په جګړه اخته شول او هرات دوه میاشتې دفاع ته اړ وت، د همدې مودې په ترڅ کې د ازبك سردارانو ترمنځ شخړې پیدا شوې. جاني بیګ کرمنې ته یعنی د خپلې واکمنۍ سیمې ته ولاړ او عبید الله مرغاب ته ولاړ. ددې پر ځای تیمور سلطان له عبید الله سره په یووالی سره پر هرات یرغل وکړ او صفوي عسکر او حاکم ټول ایران ته وتښتیدل دا ځکه چې د هرات خلکو د هغوی له مذهبي تعصب او ظلم څخه کرکه درلوده. عبید الله هرات ته ننوت او له خلکو سره یې ښه چلند وکړ. هراتیانو د صفویانو موذنان او موعظان چې دلته پاتې وو ووژل او عبید الله مخ په مشهد لښکر ولیږ او هغه ځای یې ونیو. صفوي دولت هم د جګړې په موخه را وړاندې شو، خو تیمور سلطان له هرات څخه او عبید الله له مشهد څخه ماورالنهر ته په شا شول د بلخ خلکو هم لکه د هرات د خلکو په شان د صفوي دولت پر ضد پاڅون وکړ او صفوي حاکم کمال الدین محمود یې وایست او د بدخشان په کشم کې د ګورګاني بابري کورنۍ ته ورغی او پناه یې واخیسته. د بابرشاه اړیکې له اسمعیل صفوي سره ډیرې تودې وې، د بېلګې په توګه اسمعیل صفوي د مرو په

جګړه کې د بابر خور د مروې په نورو بندیانو کې ونیوله. خو هغه یې په درناوي سره بېرته بابر ته ور ستنه کړه او بابر ته یې د ازبکو په ضد په جګړو کې مرستې ور رسولې وې لکه چې عبید الله او تیمور ماورالنهر ته په شا شول کمال الدین محمود له کشم څخه بلخ ته راغی. خلکو هغه ښار ته دننه پرې نه ښود، نو ځکه هغه مخ په ایران روان شو. خو د پلچراغ په سیمه کې د ګرزیوان د مشر (ادهم) له خوا ونیول شو او ووژل شو.

په ۱۵۲۰ کې عبید الله یو ځل بیا له ماورالنهر څخه پر هرات یرغل وکړ، خو له دولسو ورځو جګړې وروسته پرته له کومې پایلې بېرته ستون شو، شیباني دولت وروسته د اسمعیل خان له مړینې څخه بیا پر هرات بل ځل یرغل وکړ، خو بیا هم بریالی نه شو. له دې امله چې دغو یرغلونو زیاتره د لوټ او تالان بڼه درلوه، نو ځکه خلك او زمونږ هېواد پکې له ډېرو زیانونو سره مخامخ شو. د بلخ شیبانیانو وروسته تر ۱۴۴۵ څخه کامران مرزا ته د همایون مرزا سیال و نظامي مرستې ورکړې او هغه بغلان ونیو، بیا یې بدخشان هم لاندې کړ، همایون چې د شیباني له دې حرکت څخه په غوسه شوی و، له کابل څخه بدخشان ته ولاړ او کامران ته چې یې ماتې ورکړه، خو هغه یې عفو کړ او بل ځل یې له کابل څخه د بلخ د شیبانانو په وړاندې لښکر ور وست، خو د شیبانیانو په وړاندې یې چندان بریالیتوب تر لاسه نه کړ، نو ځکه بېرته کابل ته را ستون شو، شیباني پاچا عبد الله ثاني د شپاړسمې پېړۍ په پای کې خپل یو ډېر ځواکمن برید د افغانستان په شمال کې تر سره کړ او په ۱۵۹۷ کې یې له بلخ څخه پرته د تخارستان او بدخشان ولایتونه هم ونیول. ورپسې یې هرات، اسفزار، نیشاپور، مشهد او آن تر طبس پورې ور ودانګل، خو شاه عباس صفوي ازبك قوتونو ته د هرات شاوخوا کې ماتې ورکړه، نو ځکه صفویانو د ازبکانو د یرغلونو پر لاره ځینې ځینې ځایونو کې دفاعي لښکر کوټونه جوړ کړل.

د ماورالنهر د ازبکو جنیدي دولت چې د افغانستان د شمال لویدیځ ولایتونو له نیولو څخه زړه توری شوی و، د هغوی پر ځای یې د کندهار خواته مخ واړاو او په اوولسمه پېړۍ (د ۱۲۴۰ او ۱۲۴۲ ترمنځ) کې یې په عسکري سوقیاتو سره کندهار ونیو، خو له دې امله چې کندهار د هندوستان او ایران او ماورالنهر د سوداګرۍ د لارې په سر پروت و، دومره اهمیت درلود چې د ایران صفوي دولت او د هندوستان بابري دولت د هغه په نیولو کې له هیڅ ډول هلو ځلو څخه ډډه و نه کړه، خو ازبکو د لرې والی له امله ونشو کولای هغه د تل لپاره ونیسي نو ځکه هندي شاه جهان بیره وکړه او کندهار یې په زور سره د ازبك ځواکونو له واك څخه تر لاسه کړ. عباس ثاني صفوي پرې نه ښود، چې د ماورالنهر له جنیدي دولت سره دوستانه اړیکې پیل کړي او په ۱۲۴۸ کې یې بیا کندهار ونیو، د هند دولت له هغه وروسته څومره چې هلې ځلې وکړې کندهار یې ونشو نیولای.

ازبك دولت چې د عبد الله خان ثاني پر مهال یې وروسته د بلخ تر نیولو، بدخشان په ۱۵۸۳ کې ونیو او د بدخشان حاکم مرزا شاهرخ یې هندوستان ته د جلال الدین اکبر دربار ته په تېښته اړ کړ، او له بلې خوا یې اکبر سره یې د لیك او سفیر په لیږلو سره دوستانه اړیکې ټینګې کړې وې، په ۱۲۲۴ کې یې مخ په کابل یرغلونه پیل کړل، خو بې له کومې پایلې بېرته ستون شو، ددې پر ځای د هند دولت په ۱۲۴۰ کې

د افغانستان د شمال د ولایتونو د نیولو نیت وکړ. شهزاده مراد بخش د پنځوس زره سرتیرو او یوزر او
او سود افسرانو او دوه زره ټوپك لرونكي پوځ سره يو ځاى د بلخ پـه خوا روان شو. ورپسې اورنګزیب
مشهور د مراد بخش ورور ده پسې د شا له لوري ملاتړې شو. د بلخ حاکم ندر محمد خان له خپلو زامنو
سبحان قلیخان. بهرامشاه او قتلغ محمد سره یو ځای بلخ پرېښود. اندخ. بخارا او ایران ته د مرستې
غوښتلو په خاطر ولاړل. بلخ د حکمراني له کورنۍ سره یو ځای چې اوه میلیونه شتمني یې هم وه ټول د
مراد بخش د ځواك لاسته ورغلل او حکام یې بلخ. بدخشان. میمني او شبرغان ته ولیږل. وروسته بیا
ندر محمد خان او زامن یې د ماورالنهر له مرستندویه ځواکونو سره یو ځای راغلل او ناڅاپي جګړې یې
پیل کړې. دا جګړې دومره اوږدې شوې چې هندي ځواکونه ستومانه او له بلې خوا ژمي را روان و. نو
ځکه اورنګزیب د خپل لښکر بې وسي ته په کتو سره ځان له ګواښ سره مخامخ ولید. نو سولې ته یې
غاړه کېښوده او د بلخ او بدخشان ولایتونه یې ازبك دولت ته ور پرېښودل او خپله بیرته کابل ته راغی
او د مرتضی حسین بلګرامی په وینا یې (حدیقه الاقالیم) یې شل میلیونه هندي روپۍ یې په دغه سفر
بري کې ولیګدې. حال دا چې په هغه مهال کې د بلخ. بدخشان. او ماورالنهر د یوه کال مالیات ایله
دولس میلیونه خامي روپۍ یعنې درې میلیونه هندي روپۍ کیدې.

له دې نه وروسته د افغانستان په شمالي ولایتونو کې د ماورالنهر د ازبکي دولتونو واك د ایران او هند
د دولتونو له یرغل څخه بچ پاتې شول. خو ورو ورو په سمرقند او بخارا کې د ازبك مرکزي دولت ضعف
او په ماورالنهر کې د ملوك الطوایفي ټینګیدل (په خوقند، فرغانه او بخارا او سمرقند او نورو کې) په
شمالي افغانستان کې هم د دوی واك سست کړ. د خلم، بلخ، جوزجان، فاریاب او نورو شمال ولایتونو د
خپلواکو او نیم خپلواکو ملوك الطوایفي حکومتونو بنه غوره کړه او له مرکز سره یې تړاو ورو ورو کم
شو او د ماورالنهر ازبکي دولت ته یې اطاعت صرف په نوم پاتې و، خو عملاً خپلواك وو. په عمومي
توګه د اوولسمې پیړۍ له پیل (۱۲۰۵) څخه را وروسته د اتلسمې پیړۍ ترمنځ (۱۷۴۹ م) پورې په
تدریج سره د بخارا او ماورالنهر ازبکي جنیدي دولت د ملوك الطوایفي په ډنډونو کې ډوب شو، ترڅو
چې په ټولو ځایونو کې د هرې سیمې د بیګانو او خانانو تر امر لاندې سیمه ییزې واکمنۍ رامنځته
شوې او د مرکزي پاچا یوازې نوم پاتې شو. د ازبك دولت دغه سستي او ضعف یوازې ماورالنهر پورې
نه و تړلی بلکې په خوارزم کې یې تردې هم حالت بدتر و. د اوولسمې پیړۍ په پای او د اتلسمې پیړۍ په
پیل کې له څلویښتو کالو څخه په لږ موده کې لس پاچایان راغلل او لاړل چې هر یو یې یا ووژل شول یا
په زور له واك څخه و غورځول شول. په هر صورت؛ څومره چې د ازبك مرکزي دولت ضعف زیاتید،
هومره د بلخ ازبکي دولت پیاوړي کید. دغه ولایتي خپلواکي چې شاته یې کوم پیاوړی ملاتړ نه و، ورو
ورو د ولایت په ټولنې ډیره ډډه لګوله، له دې امله چې په دین او مذهب کې هم سره ورته و. نو ځکه د
ودونو او دودونو په ګډیدو سره یې ګټې شریکې شوې او ازبك خلکو چې په پیل کې د بلخ، جوزجان،
فاریاب، میمني او تخار په ولایتونو کې د یرغلګرو حیثیت درلود، ورو ورو د سیمه ییزو خلکو حیثیت
غوره کړ دا ځکه چې نور نو هغو تیریدونکي مهاجرین نه وو، بلکې د سیمې د خلکو دایمي وطنوال

Scanned by CamScanner

شوي وو

د بلخ ازبکي اميران سره له دې چې دومره ځواکمن نه وو . چې د هېواد ختيز او لويديز ولايتونو له خپلو سيالو صفوي او بابري ځواکونو څخه را خپل کړي، خو بيا يې هم وکولای شول چې د افغانستان دري ادب او کلتور ومني او په خپله د افغانستان د ملت يوه برخه وګرځي دغه حقيقت هغه مهال په ډېر روښانه ډول را څرګند شو چې کله په کندهار کې ابدالي دولت جوړ شو. او همدا چې په ۱۷۴۹ کې د دغه دولت استازی (شاه وليخان) شمالي ولايتونو ته ورسيد . ازبکي ټولو سيمه ييزو حکومتونو له بلخ څخه نيولې تر خلم بدخشان. کابلستان، تخارستان. زابلستان او پښور پورې ټولو يو شان او پرته له دې چې آن د چا پزه وينې شي په خپله د کندهار مرکزي دولت ته تسليم شول او د يوه واحد ملت په توګه ور سره يو ځای شول او وروسته بيا په ټولو ملي جګړو کې د بهرنيو يرغلګرو په وړاندې په ګډه سره ودريدل

# دوهم

# افغانستان او د ایران صفوي دولت

د شپاړسمې پیړۍ په پیل کې په ایران کې یو نوی دولت را منځته شو چې د هغو په سر کې یوه روحاني او صوفي کورنۍ وه. دغه دولت د اتلسمې پیړۍ تر لومړۍ نیمایي پورې عمر وکړ چې بنسټ اېښودونکی یې په ۱۵۰۲ کې اسمعیل صفوي و. دغه سړي په ایران کې امامیه مذهب رسمي کړ او امر یې وکړ چې دده په قلمرو کې خطبه د ائمه اثنا عشر په نوم ولوستل شي او لمونځ، روژه او نور اسلامي عبادتونه دې د امامیه په طریقه تر سره شي. له دې پرته دا امر یې هم وکړ چې د دغه مذهب مخالفین به که سني دي که خوارج د غازیانو په زور او د لښکر په وسله وتکول شي. د شاه اسمعیل دغه حکم د مذهبي نفاق اورونه چې له پېړیو راهیسې لګېدلي وو، ژبور کړل او د ایران ډېر سني وګړي او خوارج له ایران څخه و تښتېدل د هغو جګړو په ترڅ کې چې د سلطان سلیم عثماني له دوران څخه وروسته ایران سره وشول زیاترو یې د مذهبي تعصباتو اړخ درلود. وروسته بیا د اروپا ښکیلاکګرو دولتونو په منځنۍ آسیا کې له دغو مذهبي اختلافاتو څخه استفاده وکړه او د شیعه او سني مذهب اختلاف ئې یې ډېره ګټه اوچته کړه. همدارنګه د ایران اسلامي عارفان هم له خپلو خانقاوو سره یو ځای وتکول شول او ګڼ شمېر پوهان هندوستان ته وتښتېدل او مهاجر شول. نور نو په صفویه دولت کې د پخوا په شان نامتو شاعران، لیکوالان او پوهان پیدا نه شول. ددې پر ځای په جادو او استخاره او خرافاتو باندې عقیده پیاوړې شوه. شاه عباس په خپله په پښتو له اصفهان څخه تر مشهد پورې زیارت ته ولاړ، له دې امله چې شیعه مذهب د موږ کیدو په حال کې و، نو ځکه یې د دغه مذهب روحانیونو ته نا محدود واکونه ورکړل په دې توګه دیني علومو، د طبیعي علومو، ریاضي او ادب ځای ونیو او د غمرازۍ دود دوستور ژوندی شو. ترکي ژبه هم د صوفیه دولت په دوران کې په ایران کې رواج شوه، د دغه دولت په هماغه پیل کې د شاه اسمعیل پلویانو سرې ترکي خولۍ په سر کولې او د «قزلباش» په نوم مشهور شول، وروسته بیا د شاه عباس قبیلوي ملاتړې په ترکي ژبه «شاهسون» و بلل شول.

صفوي دولت په همداسې ځواک سره چې په مذهبي احساساتو را پارېدلي وو، په آسانۍ سره وکولای شول چې ایران ته یو ځل بیا سیاسي وحدت ور وبخښي او بهرنی یرغلګر ور څخه لرې کړي. له دې پرته صفوي دولت د علمي انحطاط برعکس، دې ته پاملرنه وکړه چې د هرات د هنري مکتب په قدم ښکلي هنرونو وده ورکړي. اسمعیل صفوي چې د صوفیه مکتب بنسټ کېښود، عراق عجم، فارس او رستمدار یې ونیول او خپل مخالفین یې په اور کې وسوځول او یو شمېر نور یې لکه د مرغانو په شان د وسپنو په کپس کې واچول. هغه په دې کړو وړو سره په اتو کلونو کې د ایران د دولت مرکزیت ډاډ من کړ او بغداد

يې هم ونيو، نو په ۱۵۱۰ کې يې افغانستان ته پام واړاو
شاه اسمعيل طوس، مشهد او سرخس ونيول او محمد شيباني خان يې د هغه له لښکر سره په مرو کې ماتې سره مخامخ کړ او د مړيو له سرونو يې څلي جوړ کړل وروسته بيا د اسمعيل لښکر هرات ته راغی، د ښار اشراف مخکې تسليم شوي وو او په جامع جومات کې د صفوي فتح منشور ولوستل شو دلته د حافظ زين الدين هراتي له خوا د پاچا امر تر پښو لاندې شو. يعنی حافظ د خلفا وو او د امير المومنين علي ابن ابي طالب د مخالفينو په هلکه بد و نه ويل. نو څکه د اسمعيل افسران چې له ډير تعصب څخه ريږديدل، حافظ په هماغه جومات کې مړ کړ. د هرات خلك متفرق شول او له دوی څخه يې کرکه پيدا کړ. خو اسمعيل په خپله هرات ته راغی او خلکو سره يې دروند او له تدبير څخه ډك چلند وکړه او ويې ويل چې نور دې په راتلونکی کې په منبر باندې صرف د آئمه اثنا عشر فضايل او نوم ياد شي او بس. همدارنګه هغه خپل هغه درباريان چې د مذهب پر خلاف يې شراب څښلي و اعدام کړل
له هغه وروسته صفوي شاه د ميمني او فارياب ولايتونو ته ولاړ او د هغو ولايتونو حکومتونه يې د بلخ، اندخوي، جوزجان او غرجستان سره يو ځای د بيرم بيګ تر نظارت لاندې پريښودل او د سلطان اويس حکومت يې په بدخشان کې تصديق کړ. له دې امله چې د محمد خان شيباني تر مړينې وروسته شمالي افغانستان د ازبکي حاکمانو له خوا تش شوی و او ټول ماورالنهر ته تللی وو، نو شاه اسمعيل ګورګاني بابر مرزا سره (چې پخوا په ۱۵۱۱ کې د زابل له لښکر سره او د حصار او بدخشان په اتفاق شادمان د ازبکو له قواوو څخه له ختلان او کندز او بغلان سره نيولی و) نظامي مرسته وکړه، تر څو ماورالنهر له ازبك حکومت څخه ونيسي. بابر د لنډ وخت لپاره و کولای شول داسې يوه موخه تر لاسه کړي او په ماورالنهر لاسبرى شي، خو همدا چې د محمد شيباني اولادونو په سمرقند او بخارا او کرمينه کې ځانونه سره جوړ او برابر کړل، په ۱۵۱۲ کې يې بابر مغلوب کړ او د هغوی مرستندوی امدادي لښکر يې له منځه يووړ، په همدې کال کې د جاني بيګ ورور بوپای سلطان بلخ ته راغی او تيمور سلطان هرات ته او عبيد الله مشهد ته ولاړ. خلك چې د صفويانو له مذهبي تعصب او ظلم څخه خپه او کرکه يې ور څخه لرله، نو د صفوي دولت په پرتله يې ازبکي دولت غوره باله، له همدې امله يې په بلخ کې ازبك حاکم ته هر کلی ووايه او صفوي حاکم (کمال الدين محمود) يې تيښتې ته اړ کړ او بيا يې مړ کړ. په هرات کې هم خلکو تيمور سلطان ته هر کلی ووايه او د صفويانو موذن او واعظ يې د حافظ زين الدين په کساټ کې ووژل. وروسته تر هغه چې صفوي لښکر يو ځل بيا هرات ته راغی او تيمور سلطان او عبيد الله له هرات او مشهد څخه ماورالنهر ته تيښته وکړه، ابو القاسم بخشي او خواجه شهاب الدين غوري او قاسم کرفي او امير نظام الدين او عبدالقادر او نور د صفوي ښکيلاك په ضد را پاڅيدل او د هرات د نيولو په لټه کې شول، خو صفوي ځواکونه ډير قوي وو چې هرات او مشهد يې ونيول او شورشيان يې د شهاب الدين غوري، قاسم کوفي او نورو درې سوه تنو په وژلو سره وټکول.
شاه اسمعيل چې په خپله په مشهد کې و، د يو سلطان او امير سلطان يې له لښکر سره د افغانستان د شمالي ولايتونو د ټکولو په خاطر وليږل، د اندخوي خلك د قرابقال په مشري د صفوي لښکرو مخه

Scanned by CamScanner

ونیوله او وروسته تر یوې اوږدې جګړې څخه ماتې سره مخامخ شو. صفوي قوماندان له بریالیتوب وروسته اندخوي لوټ او د هغه ځای اوسیدونکي یې ټول نارینه او ښځینه قتل کړل. شبرغان او بلخ خپله تسلیم شول، دا مهال د کندهار پخواني والي شجاع بیک ذوالنون چې د هرات په ارګ کې بندي و، له زندان څخه مخ په کندهار و تښتید. اسمعیل صفوي امر وکړ چې په هر ځای کې چې د افغانستان له لښکر څخه یو تن هم ووینې باید ووژل شي. صفوي افسرانو په هرات کې همدا کار وکړ او ډیر خلک یې د ښځو او نارینه وو په ګډون ووژل او ډیر یې لوټ کړل. همدارنګه شهرخ افشار له یوه لښکر سره کندهار ته واستول شو. تر څو کندهار ونیسي او شجاع بیک ووژني. دغه لښکر جګړې وکړې، خو کندهار یې ونشو نیولای، خو د کندهار پر ځای د بلوچستان مستونګ ته روان شو چې شجاع بیک هلته وتکوي، خو شجاع بیک لاس ته ورنغی، خو د مستونګ بې ګناه خلک لوټ او ووژل شول. سمدستي صفوي لښکر ایران ته ستون شو او اسمعیل هم له مشهد څخه خپلې پلازمینې تبریز ته ولاړ.

د شیباني او صفوي دولتونو دغه یرغلونه ټول ددې لامل شول چې په افغانستان کې کرنې ته زیان ورسیږي. نو ځکه په ۱۵۱۲ کې یوه لویه کاختي راغله، په تیره بیا په هرات کې. په ۱۵۱۴ کې د غرجستان او چقچران خلکو د محمد زمان مرزا او امیر اردو شاه په مشرۍ د صفوي دولت په ضد پاڅون وکړ خو دغه پاڅون کوم ځای ته و نه رسید، په داسې حال کې چې اسمعیل یو کال نور هم د آذربایجان په جګړه کې ښکیل شو او له سلطان سلیم عثماني څخه یې ماتې وخوړه، نو پلازمېنه تبریز یې هم له لاسه ورکړه، نو له دې وروسته یوازې د افغانستان په شمالي ولایتونو او غربي سیمو او مشهد، نیشاپور او هرات باندې واکمن و. نوموړي په ۱۵۱۵ کې ددغو ولایتونو حکومت د (خراسان) په نوم خپل زوی او ولیعهد طهماسب مرزا ته وسپارل او هغه د خراسان له وزیر شیخ مجد الدین کرماني سره په هرات کې متمرکز شو، خو کله چې عبید الله شیباني په ۱۵۲۰ کې پر هرات یو ځل بیا یو بې پایلې یرغل وکړ، اسمعیل صفوي د هرات حکومت خپل بل زوی (سام مرزا) ته ورکړ، دا ځکه چې د طهماسب یو لوی مامور امیر خان په هرات کې ظلم کول شروع کړی و او د پیسو او مالونو د ترلاسه کولو په خاطر یې وګړ شمیرنه کړې وه او په هغوی یې ډیرې زیاتې پیسې اینبې وې. شاه اسمعیل صفوي د مشهد ښار د ثامن الائمه د قبر د موجودیت له امله د خراسان اداري مرکز او د ایران مذهبي مرکز وټاکه او د ایران د خلکو ټولو پاملرنه یې د هغه سپیڅلتوب او ساتنې ته واړوله، په تیره بیا کله چې وروسته وروسته بیا د نجف او کربلا مذهبي مقامات (ځایونه) د ایران له لاسه ووتل، نو د ایران د خلکو ټوله پاملرنه مشهد ته را وګرځیده. شاه اسمعیل په ۱۵۲۳ کې ګرجستان ونیو او په ۱۵۲۴ کې ومړ.

شاه طهماسب د اسمعیل زوی او ځای ناستی د تبریز پر ځای قزوین خپله پلازمینه وټاکله (د نوموړي پاچاهي له ۱۵۲۴ څخه تر ۱۵۷۲ پورې وه)، او د اسمعیل له مړینې وروسته یې په هرات باندې د ازبک د دولت د یرغل مخه ونیوله، خو د عثماني دولت له یرغلونو سره مخامخ شو. سلیمان قانوني عثماني پاچا په ۱۵۲۳ کې بین النهرین او آذربایجان ونیول او بیا تر سلطانیه پورې پرمخ ولاړ، خو بیرته را ستون شو تر څو چې په ۱۵۵۴ کې د ایران او عثمانیانو ترمنځ اوربند وشو. طهماسب په هندوستان کې

Scanned by CamScanner

د شیرشاه سوري په لاس د همایونشاه بابري له ماتولو وروسته (له ۱۵۴۰ څخه وروسته)، هغه ته په هرات کې هر کلی ووایه او په ایران کې یې ځای ورکړ. په هرات کې د همایون راتګ ته ښه راغلاست د طهاسب د امر له مخې د افغانستان په حساب وشو. په دغه منشور کې راغلي و چې د هرات ۵۰۰ اشراف باید د همایون د لارې مخې ته ور ووځي او هغه ته دې د طهاسب له خوا سل آسونه چې د سرو زرو پراقونه ولري او ۳۰ نور آسونه چې زر بفت غړوندي او لاجبري زینونه ولري د هرات د حاکم امیر خان له خوا ورکړل شي. ددغو آسونو کته به سور او ژېړ مخمل وي له دې پرته د اسمعیل صفوي جواهر نشانه توره او ملاوستنی، ۴۰۰ توپونه مخمل او فرنګي اطلس. پنځوس جامې. د مخمل غالي. لمڅې چې استر اتلس ولري، درې ۱۲ زرعی غالی. ۱۲ سپینې او سرې خیمې دې د طهاسب په نوم ورکړل شي او پنځوس خیمې او پنځوس غالې دی (۴۰، ۲۰ او ۱۲ زرعې). سل اوښان او پنځوس چیني طبقونه دې د هرات د حاکم په نوم ورکړل شي. د همایون شاه د مجلس خوراك دی په لاندې ډول وي. د ورځې پنځه سوه غوري او د میلمستیاو په ورځو کې د ورځې ۱۵۰۰ غوري ډول ډول خوراکونه د سپینو زرو په طبقونو کې او په چیني او طلايي لنګرونو کې چې سر پوښونه یې د سرو او سپینو زرو وي. د ډوډۍ لپاره باید اوړه په شیدو کې لامده شوي وي او غوړې ډوډۍ به وي چې وربانديې خاشخاش اچول شوي وي او په عنبر، منبك او د ګلابو په عطرونو خوشبویه او خطاطي شویو دسترخانو کې به ور وړل کېږي. د میو مربا، د لیمو شربت چې ګلاب ولري. هندوانې او انګور. حلوا او فالوده به هم ورسره وي له همایون شاه سره یو ځای د نورو ملګرو لپاره یې جیب خرڅ د هر یوه لپاره دوه تومانه او په خپله د همایون شاه جیب خرڅ دوه زره تومانه (یو تومان د هغه مهال دوه د سپینو زرو مسکوکاتو سره برابر و) ورکړل شو د ښکار په ورځو کې دې باز، چرخ او شاهین په کار واچول شي او د همایون شاه په مجلس کې دې هراتي سندر غاړي لکه حافظ صابر. حافظ دوست، قاسم قانوني. استاذه شاه محمد نایي او استاد یوسف کمانچه حاضر وي. د همایونشاه د راتګ په ورځ دې په هرات کې ۳۰ زره پلي او سپاره هغه ته هر کلی ووایي، بازارونه دې ښکلي کړل شي، حمامونه دې سپین کړل شي او خوشبویي دې ولګول شي. کلانتر حسین هراتي دې ددغې ورځې ورځپانه ولیکي او له همایونشاه سره دې د مجلس جریان هم ثبت کړي او اصفهان ته دې یوسي (۳۴۲ مخ- حدیقة الاقالیم- د هندوستان د نولکشور چاپ). له دغې لیکنې څخه ددغه دربار ډېر زیات لګښتونه معلومیدای شي او دا څرګند دی چې خلك په څومره ظلم سره ځبیښل کیدل او حاکمه طبقه دومره هوسا ساتل کیده.

طهماسب په ۱۵۴۴ کې له لس زره سر تیرو سره مرسته وکړه چې همایونشاه افغانستان ته راشي او کندهار، زابل او کابل له خپلو مخالفو ورونو څخه ونیسي. په دې شرط چې همایونشاه به کندهار شهزاده مراد صفوي ته وسپاري. همایون راغی او کندهار یې له مرزا عسکر بابري څخه ونیو او مراد مرزای صفوي ته یې ورکړ چې له ده سره راغلی و، په خپله کابل ته راغی او دلته دیره شو، خو مراد مرزا ډېر ژر په کندهار کې مړ شو. همایون له کابل څخه ورغی او د مراد مرزا نایب بوداغ خان یې ایران ته ولیږ او په خپله یې کندهار ونیو او خپل حاکم بیرام خان ته یې وسپاره او په خپله بیرته کابل ته راغی،

Scanned by CamScanner

خو طهماسب په ۱۵۳۲ کې کندهار ته پوځ ولیږ او کندهار یې دا مهال له کامران مرزای بابري څخه ونیو وروسته له څه مودې کامران بیرته ور وګرځید او کندهار یې بیا له صفوي حاکم څخه تر لاسه کړ او شاه طهماسب په ۱۵۵۲ کې یو ځل بیا کندهار ونیو

شاه طهماسب د انګریز د ختیز سوداګرۍ کمپنۍ استازي چې په ۱۵۶۱ کې ایران ته راغلی وو او غوښتل یې ایران کې د سوداګرۍ مرکز پرانیزي او د انګلستان د ملکې الیزابت پیغامونه یې هم ځان سره راوړي وو، د عیسوي او کافر په نوم رد کړل، او په خپله ده ته په ۱۵۷۶ کې د خپل حرم د یوې ښځې په لاس زهر ورکړل شول او مړ شو

د طهماسب ځای ناستي تر ۱۵۷۷ پورې دواړه یعنی حیدر او دوهم اسمعیل یو په بل پسې پرته له دې چې کوم ستر کار وکړي د درباري امیرانو په لاسونو ووژل شول. په دې توګه سلطنت د طهماسب یو بل ځوی (محمد خدا بنده) ته ورسید، خو هغه د عثماني دولت تر یرغلونو لاندې راغی، ده د زوی عباس په ۱۵۸۷ کې خپل سلطنت اعلان کړ او تر ۱۶۲۹ پورې یې حکمراني وکړه له دې امله چې شاه عباس د عثماني دولت له نظامي پیشقدمي سره مخامخ شو، د تبریز، شیروان، ګرجستان او لرستان ولایتونه یې په ۱۵۸۸ کې له لاسه ورکړل، خو ددې سرچپه، ده وکولای شول چې په ۱۵۹۷ کې د ازبکي یرغلګرو پوځونه چې له ماوراالنهر څخه راتلل د هرات په خوا کې مات کړي

له دې امله چې دولت له عثماني دولت سره د مقابلې توان درلود او همدغه عثماني دولت په اروپا او د مدیترانې تر غاړو د نورو پراختیا غوښتونکو هیوادو لپاره تشویش پیدا کړی و، نو ځکه انګریزي افسران د سوداګرۍ په جامه کې او د شرلي ورونو سره تر ترلي نوم لاندې ایران ته ورغلي وو او وروررر د ایران د اردو په تنظیم کولو لاس په کار شول. شاه عباس وکولای شول چې ډېر ژر په ۱۵۹۸ کې یو ۳۲ زریز پوځ تنظیم کړي چې د توپونو لرونکي هم وو، له دې پرته د (شاه سون) په نوم یې یو بل قبیلوي قوت هم ورسره یو ځای کړ. په دې توګه هغه په ۱۶۰۳ کال کې تبریز په زور سره له عثمانیانو څخه ونیو او یو ځل بیا یې د ارومیه د سمندرګي په خوا کې عثماني لښکر ته ماتې ورکړه، ایروان، شیروان او قارص یې ونیو. له دې پرته هغه آذربایجان، کردستان، بغداد، موصل، دیاربکر، کربلا او نجف هم ونیول، یوازې د هغې منې له مخې چې په ۱۶۱۱ کې وشوه، د ایران عثماني دولت ته په یو کال کې ۲۰۰ باره وریښم ورکول ومنل شول. د ایران د وریښمو کلني صادرات په هغه وخت کې له شپږ سوه او څو دیرش زره منه څخه هم زیات وو. شاه عباس په ۱۶۱۵ کې د هند سوداګریزې انګلیسي کمپنۍ ته د ایران د وریښمو د پیریدلو امتیاز او په جاسک کې د تجارتخانې د جوړولو اجازه ورکړه او د هغوی بیړیو ته یې له پارس خلیج څخه د تیریدو را تیریدو جواز او امتیاز هم ورکړ، له هغه وروسته په ۱۶۲۰ کې انګلیسي سمندري ځواك د پرتګال ځواکونو ته په جاسك کې ماتې ورکړه او د قشم تاپو یې له پرتګالیانو څخه د ایران لپاره ونیو، په دې توګه ایران د هرمز پر تاپو هم واك وموند، او تر ۱۶۲۵ پورې یې د انګلیسي او هالند په مرسته د پاریس په خلیج کې د پرتګال ټول مستعمرات او تاپوګان ونیول، په دې توګه د انګریزانو سیاسي او اقتصادي واك پر ایران را ټینګ شو.

Scanned by CamScanner

شاه عباس په ۱۲۲۰ کې یو لښکر کندهار ته را ولیږ او ښار یې د هندوستان د هغه مهال بابري پاچا جهانګیر حاکم عبدالعزیز واك څخه په زور سره ونیو. خو وروسته تر اوولسو کالونو (۱۲۳۷) څخه وروسته شاه جهان بابري د کندهار د نیولو په نیت له ډيلي څخه پنجاب ته راغی او صفوي حاکم علي مردان خان د هغه په نوم خطبه ولوسته، ابو سعید د کابل بابري حاکم مخ په کندهار ورغی او علي مردان یې د شاه جهان دربار ته ولیږ او صفوي نظامي قوماندان سیاوخش ته یې ماتې ورکړه چې سیا وخش دفاع کوله اود جګړې په ترځ کې ماتې سره مخامخ شو. له دغې پېښې څخه دوه کاله وروسته شاه عباس په ایران کې مړ شو. خو له دې امله چې لا پخوا یې خپل دوه زامن ړانده کړي وو او خپل بل زوی یې وژلی و، نو ځکه یې سلطنت لمسي (شاه صفي) ته ورسید چې له ۱۲۳۹ څخه تر ۱۲۴۲ پورې په واك کې پاتې شو د شاه صفي په لنډه دوره کې ازبك ځواکونو کندهار ونیو او عثماني ځواکونو همدان او بغداد ونیول.

عباس ثاني (۱۲۴۲ - ۱۲۷۷) په ۱۲۴۸ کې په کندهار یرغل وکړ او دغه نامتو او کلك ښار یې ونیو له همدې کال څخه وروسته کندهار هم لکه د هرات، سیستان، مشهد او نیشاپور په شان تر اتلسمې پیړۍ پورې د صفوي دولت په لاس کې پاتې شو. سره له دې چې بابري شاه جهان تر ۱۲۵۱ پورې دوه ځله نور هم د شهزاده اورنګزیب او د کابل د حاکم سعد الله تر مشرۍ لاندې یو بشپړ لښکر د کندهار د نیولو په خاطر چمتو کړ، خو د بابري لښکر د زیات شمیر له امله (۷۰ زره سپاره او پلي) د کندهار نیول ممکن نه شول. نو ځکه اورنګزیب ناکام او هند ته ولاړ. عباس ثاني له ازبکیه دولت سره د روغې جوړې لاره غوره کړه، خو په ایران کې د درباریانو او امراوو له مخالفت سره مخامخ شو. داځکه چې عباس له امامیه مذهب څخه مخ اړولی و، آن دا چې خپل هغه ټول خپلوان یې ووژل چې په امامیه مذهب باندې وو، نو ځکه د هغه مخالفینو هغه ته د خپلې خور په لاس په حرمسراي کې زهر ورکړل. د شاه عباس ثانوي ځای ناستي او زوي سلیمان صفوي (۱۲۷۷ - ۱۲۹۴) کوم نوی کار په افغانستان کې تر سره نه کړ، ده یوازې د خپل واك لاندې ولایتونو مالیات اخیستل. د شاه سلیمان زوی شاه حسین صفوي هم لکه د خپل پلار په شان و چې له ۱۲۹۴ څخه یې تر ۱۷۲۲ پورې پاچاهي وکړه.

له شاه عباس څخه وروسته صفوي دولت د انحطاط دورې ته ننوت او نور نو مخ په ځوړ و چې دغه انحطاط د شاه حسین پر مهال خپل وروستي حد ته ورسید، دولتي مرکزیت ضعیف شو او سیال وزیران او افسران، روحانیون، خواجه سرایان او فال اچوونکي ټول په دربار کې یو بل سره اخته وو، سیمه ییز ځواکمن فیوډالان په اړونده ولایتونو کې خپلواك یا نیم خپلواك شول او مرکزي دولت ته یې له مالیې ورکولو ډډه وکړه، له دې امله چې د دولت خزانه تشه شوې وه، نو ځکه دولت خپلو مامورینو ته د معاش پر ځای ځمکه ورکوله. دغه ځمکه چې میراثي نه وه بلکې مؤقتي وه، نو ځکه به یې ځښتن اړ شو چې د لنډ وخت ګټه او حاصل په پام کې ونیسي، نو څومره یې چې وس و له ځمکې او بزګر څخه به یې بودول، خو د دولت مالیه یې نه ورکوله، همدارنګه وقفي پراخه ځمکې پرته د مالیاتو له ورکولو څخه د روحانیونو او مذهبي مزاراتو په لاس کې وې. پوځ د معاش د نه رسیدلو له امله او خلکو د حکامو او

فیوډالانو د لوټ- تالان له امله کرکه پیدا کړه، نو همدې لامل د مرکزي دولت د پرځیدو لپاره لاره هواره کړه. ایران دغه ډول فاسدې او نالایقه ادارې تر واك لاندې کړی و او خلکو په لرې لرې ځایونو کې پاڅونونه پیل کړل. د اتلسمې پیړۍ په لومړیو کې د ایران (لزګی) خلکو اړ- دوړ جوړ او د پاڅون په ترځ کې یې شیراز ونیو، همدارنګه دلرستان خلکو پاڅون وکړ او تر کردستان پورې ورسیدل. د ایران په جنوب کې هم بلوچانو پاڅون کړی و او د عباس بندر یې ونیو. سره له دې چې د ایران دغه کورني پاڅونونه سمدستي د مرکزي دولت د نړیدو او پرځیدو لامل نه شول، خو د افغانستان د خلکو پاڅون یې کار ورته پای ته ورساو.

# دریم
# افغانستان او د هند بابري دولت

د هند بابري لښکر په څو څو ځله یرغل کولو سره افغانستان ته لوی اقتصادي او فرهنګي زیانونه واړول. محمد بابر چې یو تیموري شهزاده و د ماورالنهر د اندیجان د حکمران عمر شیخ زوی او د نامتو امیر تیمور لمسی و. هغه په ۱۴۸۳ کال په اندیجان کې په یوولس کلنی کې د خپل پلار ځای ناستی شو او په ۱۴۹۷ کې یې له خپل تره سلطان احمد څخه سمرقند ونیو. په ۱۴۹۹ کې یې یو ځل بیا اندیجان له خپل ورور جهانګیر څخه او په ۱۵۰۰ کې یې سمرقند د ازبکو د نوی دولت له مشر او موسس محمد شیباني څخه ونیو، خو یو کال وروسته د محمد شیباني له یرغل سره مخامخ شو او خپل ماما سلطان محمود ته یې په تاشکند کې پنا یووړه. محمود هغه سره مرسته وکړه او یو ځل بیا یې په اندیجان یرغل وکړ. بابر په دغه ځل یرغل کې ټپي شو او ترمذ ته وتښتید، دا ځکه چې تاشکند محمد شیباني نیولی و. په ۱۵۰۱ کې بابر له ترمذ څخه افغانستان ته راغی، دا مهال د افغانستان ګرګاني دولت واکمني مخ په ځوړ وه او بدیع الزمان مرزا په میمنه کې و، د تخارستان حکومت د هغه ځای سیمه ییز واکمن خسرو شاه په لاس کې و چې د سر تیرو شمیر یې له اتو زرو څخه زیات وو، دغه سړی د کندز په پلازمینه کې بابر ته ښه راغلاست ووایه او د هغه ملاتړ یې وکړ، خو بابر د هغه لښکر خپل لوري ته را مات کړ او خسروشاه یې بدیع الزمان ته په ورتښتیدو باندې اړ کړ، بابر د کندز له لښکر سره یو ځای د کابلستان په نیت له هندوکش څخه را تیر شو. دا مهال کابل هسې په نامه د مرزا عبدالرزاق ګورګاني په واک کې و خو اصلي واک د کندهار او زمینداور د ګورګاني حکمران محمد مقیم ارغوني سره و. کله چې محمد مقیم د ګورګاني دولت انحطاط ولید، کابل ته راغی د کابل حکومت یې په زور سره د عبدالرزاق له خوا سره یو ځای ونیو. عبدالرزاق مخ په لغمان و تښتید خو محمد مقیم د بابر په وړاندې مقاومت و نه کړ او ښار یې ورته تسلیم کړ او خپله کندهار ته ولاړ.

بابر په ۱۵۰۵ کې چې په هرات کې د سلطان حسین له مړینې وروسته ګورګاني دولت مخ په له منځه تلو و، له کابل څخه غزني ته او بیا کلات ته روان شو او زابلستان یې د کندهار له ارغوني واکمنو څخه ونیو، خپل ورور جهانګیر ته یې ورکړ او په خپله په ۱۵۰۷ کې د هزاره له لارې هرات ته ورغی. دا مهال بدیع الزمان او مظفر حسین د افغانستان دوه غبرګ پاچایان د مرغاب د سیند تر غاړې د شیباني د دولت د یرغل په وړاندې په دفاعي بڼه په وضع الجیشي حالت کې وو. بابر غوښتل چې له ګورګاني پاچایانو سره په یوه اتفاق خپل ګډ دښمن محمد شیباني سره جګړه وکړي، خو ژمي راغی او شیباني سره د دوی جګړه و نشوه. دا مهال کابل هم دده خپلوان او سیال (جان مرزا) ور څخه نیولی و، نو بابر بیره

وکړه او کابل یې بېرته تر لاسه کړ او جان مرزا یې کندهار ته ولیږ. بابر په ۱۵۰۷ کې د غزني پر خلیجانو ور ودانګل او وروسته تر قتلونو څخه یې د هغوی څو زره پسونه او څاروي غنمیت کړل او د خلکو کرکه یې د ځان په وړاندې را وپاروله. محمد شیباني چې د هرات په نیولو سره ګورګاني دولت له منځه وړی و او د جنوب لوري ته یې پام اړولي و. د کندهار واکمنان محمد مقیم او شاه بیك ارغوني یې ویرې سره مخامخ کړل. هغو له بابر څخه مرسته وغوښته، تر څو بابر کندهار ته رسید، دغو دواوو ورونو ځانونه شیباني ته چې مخکې ور رسیدلی و تسلیم کړي وو او په خپل حکومت ځای پر ځای پاتې شوي وو. نو څکه یې د بابر شاه د مخنیوی لپاره لښکر چمتو کړ. بابر هم جګړه ور سره پیل کړه او دواړو ورونو ته یې ماتې ورکړه. محمد مقیم زمینداور او شاه بیګ د بلوچستان شمال ته وتښتید. بابر د کندهار حکومت خپل ورور ناصر مرزا ته ورکړ او خپله کابل ته راستون شو، څو هلته دواړه ورونه د شیباني په مرسته بیرته کندهار ته راغلل، ناصر مرزا یې مخ په کابل را وځغلاو، محمد خان شیباني هم له زمینداور څخه بیرته هرات ته ولاړ او هرات د ارغوني ورونو په لاس کې پاتې شو.

بابر د کندهار پیښه همداسې پرېښوده په ۱۵۰۸ کې یې د ننګرهار ولایت ته پام وکړ د کابل پخوانی حاکم مرزا عبدالرزاق له بابر سره په جګړه کې ونیول شو او بیا اعدام شو، په دې توګه ننګرهار د بابر له حکومت سره وتړل شو. همدا مهال د بدخشان خلکو د «زبیر راعی» «شپون» په مشرتوب پاڅون وکړ او هغه ولایت یې له ګورګاني حکامو څخه ونیو. بابر غوښتل چې په افغانستان کې د ګورګاني دولت پر ځای واك ولري، ډیر ژر یې د جان مرزا په مشرتوب یو لښکر چمتو کړ او بدخشان ته یې ور ولیږ او هغه ولایت یې له زبیر راعي څخه ونیو. همدا چې بابر په مرو کې د جګړې په ترځ کې د محمد خان شیباني له وژل کیدو څخه خبر شو، په ماورالنهر کې د دولت د جوړولو په فکر کې شو، نو په بیړه کندز ته ولاړ او له اسمعیل صفوي څخه یې مرسته وغوښته، وروسته له هغه یې په ۱۵۱۱ کې ماورالنهر ته ودانګل او بخارا و سمرقند یې ترلاسه کړل. شیبانیانو هم جګړه پیل کړه او سمرقند او بخارا یې بیرته ونیوه او بابر یې په ۱۵۱۴ کې بیرته مخ په افغانستان را وځغلاو. له دې څخه وروسته بابر د ماورالنهر خیال له سره وکیښ او په شمالي ولایتونو کې یې هم د صفوي دولت پیاوړتیا لیدله، نو ځکه یې ختیز افغانستان ته پام راواړو او پر آزادو قبایلو یې ور ودانګل. په باجوړ او سوات کې یې درې زره تنه ووژل او د هغه ځای حکومت یې خواجه کلان بیګ ته وسپاره او مرزا ناصر یې غزني ته ولیږ، بابر ډیر ژر دومره پیاوړی شو چې په ۱۵۱۸ کې د هند د نیولو په خاطر له سند څخه پورې وت او تر چیناب پورې ورسید او بیرته را ستون شو. په بل کال د یوسف زیو له ټکولو وروسته یو ځل بیا په اټك کې له سند څخه پورې وت او له څلور زره سپرو سره یو ځای یې محمد سلطان په لاهور باندې یرغل کولو باندې و ګوماره او خپله بیرته کابل ته راغی. په ۱۵۱۹ کال یې پر پنجاب یرغل وکړ او سیالکوټ یې له ۳۰ زره بندیانو سره ونیو او د سید پور د پښتنو له لوټ او تالان څخه وروسته بیرته کابل ته راغی. په ۱۵۲۰ کې یې همایون بدخشان ته ولیږ، په خپله کندهار ته ولاړ شاه بیګ ارغوني کلابند کړ، په بل کال کې شاه بیګ کندهار بابر ته تسلیم کړ او خپله یواځې د بلوچستان په حکومت قانع شو، وروسته بیا هغه او د هغه اولادونه د سند په

Scanned by CamScanner

ولایت هم واکمن شول بابر کندهار مرزا کامران ته ورکړ او خپله بیرته کابل ته راغی

په همدې مهال د هندوستان د لودي افغانانو دولت مخ په ځوړ شو او د دوی ترمنځ د کورني نفا اور بل شو. آن دا چې د سلطان ابراهیم لودي تره علاو الدین عالم خان د خپل وراره په ضد کابل ته راغی او د بابر له دربار سره یو ځای شو او د پنجاب ډیر ځواکمن والي دولت خان لودي بابر دې ته وهڅاو چې هغه ونیسي او د ډیلي حکومت ونړوي. د همدې هڅوني په پایله کې بابر په ۱۵۲۳ کې پر پنجاب یرغل وکړ. خو مخکې له دې څخه یې د یوسفزیو د یوه مشر لـه لور سره په واده کولو دغه خلك را خپل کړي وو. بابر په دغه یرغل کې د لاهور ساتونکي پښتانه لـه ماتې سره مخامخ کړل او ښار یې ونیو او مرزا عبدالعزیز ته یې وسپاره او سیالکوټ او دیبالپور یې وروسته لـه ډله ییزو وژنو څخه خپلو حکامو ته وسپاره او بیرته کابل ته راغی. په سیالکوټ کې دده حاکم عالم خان د ډهلي د سلطان تره و. دغه سرې د پردیو په وړاندې د دفاع پر ځای، د دولت خان لودي له زوی غازي خان سره یو ځای خپل سر تیری مخ په ډیلي وروستل. خو سلطان ابراهیم ماتې ورکړه. نو ځکه بیرته سیالکوټ ته راستانه شول. دوه کاله وروسته (۱۵۲۵ کې) بابر د بدخشان، کابل او کندهار (۲۱ زره سرتیرو سره) یو ځای ډیلي ته کلکه ماتې ورکړه. ابراهیم شاه لودي د پاني پت په جګړه له خپلو زړورو ساتونکو سره یو ځای ووژل شو او شاهي خطبه د ظهیر الدین محمد بابر په نوم ولوستل شوه. لـه دې څخه وروسته بابر د کابل پاچا او د هندوستان شهنشاه شو. د غزني او زابلستان حکومت خواجه کلان بیك او د کابلستان او بدخشان حکومت شهزاده همایون ته او د هغه په وکالت سره وروسته بیا سلطان اویس تیموري ته او د کندهار حکومت شهزاده کامران ته او وروسته بیا د هغه په وکالت سره د هغه ورور مرزا عسکري ته ور ورسیدل، خو څه موده وروسته د بدخشان حکومت د بابر د تره زوی مرزا سلیمان ته ورکړل شو چې کلونه کلونه هغه او د هغه اولادونه هلته حکمرانان وو.

بابر په ۱۵۲۹ کال کې په هندوستان کې مړ شو. له دې امله چې خپله ځواني یې په افغانستان کې تیره کړې وه او دغه وطن سره یې ډیره مینه وه، نو د مرګ پر مهال یې وصیت وکړ چې په کابل کې دې خښ شي. همدارنګه کله چې بابر اګره ونیوله او د لودي دولت ټولې خزانې یې ترلاسه کړې د کابل هر اوسیدونکي ته یې یوه یوه اندازه پیسې ورکړې. بابر د کلك عزم لرونکی او شاعر او لیکوال هم و چې په دري او ترکي ژبو یې نثر او نظم لیك، همدارنګه د سپاهیانو سر لښکر او یو جنګیالی سړی و چې په هندوستان کې یې د ګورګاني د دوران د فرهنګ ډیوه روښانه وساتله. دده اولادونه لکه همایون، اکبر جلال الدین، جهانګیر او شاه جهان د اورنګزیب تر مهال پورې د فرهنګ او کلتور په غوړیدو کې برخه واخیسته، خو په افغانستان کې یې هیڅ کوم خدمت و نه کړ، بلکې نیول شوي ولایتونه یې هم د نیول او جاګیرونو په بڼه شهزاده ګانو او خپل افسرانو ته ورکړي وو او هر یو یې په خپله سیمو کې مطلق العنان واکمنان وو، همدارنګه تیمور د کورنیو جګړو له امله د هیواد اقتصاد ته زښته زیات زیان واړاو د تجزیې او انحطاط لړۍ یې همداسې جاري وساتله، همدا لامل و چې د خلکو د کرکې وړ و ګرځیدل ترڅو چې بیخي و پرځیدل.

د بابر مشر زوی همایون چې په کابل کې زیږیدلی و او په افغانستان کې ستر شو ، وروسته د پلار تر مړینې په ۲۴ کلنۍ کې د هندوستان پاچا شو. هغه په افغانستان او هندوستان کې خپل او پردي ډیر کلك کلك سیالان لرل، چې نه یې شو کولای په ټولو بری ترلاسه کړي. تر هر څه مخکې دده ورور کامران مرزا چې د کابل او کندهار حکومت ورسره و ، د همایون په وړاندې مخ په هند لښکر وروست او لاهور یې ور څخه ونیو. همایون د حکومت د ساتنې په خاطر بې له کومې جګړې په افغانستان کې د هندوکش د جنوب ولایتونه او په هندوستان کې د پنجاب ولایت ور پریښود. کامران په ۱۵۴۵ کې د شاه طهماسب د ورور سام صفوي یرغلګر پوځ ته په کندهار کې وروسته تر اتو میاشتو کلابندۍ څخه ماتې ورکړه او په بل کال یې فاتح صفوي حاکم په کندهار کې تسلیم کیدو ته اړ کړ، په دې توګه دده خپلواك حکومت له بامیان څخه تر کندهار او لاهور پورې ډاډمن شو ، خو همایون په ۱۵۳۸ کې د خپل یوه بل ورور مرزا هندال سره په هند کې له مخالفت سره مخامخ شو. هندال نه یواځې دا چې په اګره کې ځان خپلواك اعلان کړ، بلکې لښکر یې را روان او ډیلي یې کلا بند کړ او کامران هم ورسره په دې جګړه کې لاس یو کړ، همایون چې سست شوی و ، بل لوري ته له یوه بل ځواکمن سیال شیرشاه سوري سره مخامخ شو ، شیر شاه سوري ځان د هندوستان د افغاني دولت وارث باله په ۱۵۳۹ کې یې همایون ته په (لهوجپور) او په بل کال (۱۵۴۰ کې) یې د ګنګا تر غاړو کلکه ماتې ورکړه او په خپله یې یو ځل بیا پر هندوستان باندې افغاني حکومت اعلان کړ. البته ددغه هوښیار او مدبر پاچا د سلطنت تشریح د هندوستان په تاریخ پورې اړه پیدا کوي.

همایون له دغې ماتې وروسته د هند له پاچاهي لاس و مینځ او غوښتل یې چې په افغانستان کې د نیول شویو ولایتونو په پاچاهی قناعت وکړي، نو ځکه په هند کې تر یوولسو کلونو پاچاهي وروسته افغانستان ته را ستون شو ، خو د لارې په ترڅ کې هغه ورونو یواځې پریښود. کامران او عسکري مرزا مخ په کابل ولاړل او هندال کندهار ته ولاړ. کامران و کولای شول چې کندهار او بدخشان ځان ته تسلیم کړي او د پاچاهي خطبه په خپل نوم کړي، همایون د سند له لارې بلوچستان ته، بیا ګرمسیر، سیستان او بیا پسې هرات ته ولاړ تر څو هلته له صفوي دولت څخه د خپلو ورونو په ضد مرسته وغواړي، صفوي دولت هغه ته په ۱۵۴۴ کې د قزوین په پلازمېنه کې هر کلی ووایه او هغه ته یې لس زره سرتیری د نظامي مرستې په توګه ورکړل تر څو د افغانستان ختیز ولایتونه له خپلو ورونو څخه ونیسي، په دې شرط چې کندهار صفوي دولت ته ور پریږدي. همایون ۱۵۴۴ کې افغانستان ته را ستون شو او په کندهار یې یرغل وکړ، عسکري مرزا ماتې و خوړه او کندهار د همایون لاس ته روغی. وروسته بیا همایون د کابل په لوري راغی او ښار یې په زور سره په ۱۵۴۵ کې له کامران څخه ونیو. کامران سند ته و تښتید او همایون تخارستان ته ولاړ د بدخشان او تخارستان حاکم سلیمان مرزا په اندراب کې په دفاع لاس پورې کړ، خو مات شو او و تښتید. همایون وړاندې ولاړ او تالقان او کشم یې تر بدخشان پورې ونیول او هغه ځایونه یې خپلو حکامو ته وسپارل. د بدخشان په جګړه کې همایون خپل ورور ناصر مرزا وواژه او کله یې چې واوریدل چې کامران له سند څخه راغلی او کابل یې نیولی، بیرته کابل ته

راستون شو.
کامران په دغه جګړه کې مات او بدخشان ته وتښتید، هلته یې غوري، بغلان او تالقان ونیول. همایون په ۱۵۴۶ کې کامران په بدخشان کې پسې واخیست او د تالقان په ښار کې یې کلابند کړ، کامران تسلیم شو او عفو یې وغوښته. همایون چې نه غوښتل خپل دا بل ورور هم لکه د ناصر مرزا په شان ووژني، هغه یې وبانښه او د کولاب سیمه یې هغه ته وسپارله او خپله بیرته کابل ته راستون شو. خو کامران سرتمبه او لجوج و، دا ځل یې د بلخ له ازبکي حاکم پیر محمد خان سره لاس یو کړ او له هغه څخه یې نظامي مرسته تر لاسه کړه او په ۱۵۴۷ کې یې بدخشان او تالقان د همایون له حکامو څخه ونیول. همایون اړ شو چې تخارستان ته ورشي او د تالقان په شاوخوا کې کامران ته ماتې ورکړي. کله چې همایون په ۱۵۴۸ کې پر کامران بري و موند نو د پیر محمد خان د ټکولو په خاطر مخ په بلخ روان شو. سره له دې چې په لومړي یرغل یې سمنګان له ازبك واکمنو څخه ونیو، خو د بلخ په جګړه کې یې ماتې وخوړه او ازبکو تیپي کړ او بیرته کابل ته را ستون شو، په ۱۵۴۹ کې کامران د هزاره او بامیان له لارې غوربند ته ورسید او همایون ورسره مخامخ په جګړه شو، خو له ماتې سره مخامخ شو، نو ځکه یې بدخشان ته شاتګ وکړ، کامران کابل و نیو، کله چې همایون خپل ځواکونه نوي کړل، له بدخشان څخه را کوز شو، کامران د اشترګام په سیمه کې ور سره مخامخ شو، همایون ورته ماتې ورکړه او لغمان ته یې و ځغلاو او خپله کابل ته راغی. د همایون لښکر کامران تر جلال آباد پورې پسې واخیست او هغه پیښور ته ور څخه و تښتید. وروسته له څه مودې کامران جلال آباد ته راستون شو، همایون یې مخې ته ورغی، کامران جلال آباد پرینښود مخ په غزني ولاړ، له دې امله چې کابل کې خوك نه و، یرغل یې وربادې وکړ او ښار یې ونیو. همایون له جلال آباد څخه را و ګرځید او کامران بیا وتښتید، په ۱۵۵۰ کې کامران بیا جلال آباد ته راغی او د سرخاب په سیمه کې یې له همایون سره جګړه و نښته. د دوی دوه نور وروڼه (مرزا هندال او مرزا عسکري) په دغه جګړه کې ووژل شول او کامران ختیځ ته و تښتید او د (ګهکر) حاکم (سلطان آدم) ته یې پنا ور وړه. کله چې همایون په ۱۵۵۲ کې له سند څخه پورې وت، سلطان آدم و ویر او کامران یې همایون ته ور تسلیم کړ. همایون هغه ړوند کړ او په ۱۵۵۳ کې بیرته کابل ته را ستون شو.

همایون چې د لسو کالو په ترځ کې د ډیرو وینو په تویولو سره په بدخشان، کابلستان، غزني، کندهار، زابلستان او تخارستان کې خپل حکومت ټینګ کړی و، دا مهال یې د زمینداور حکومت بهادر خان سیستاني، قندهار یې شاه محمد طلاتي او بدخشان یې سلیمان مرزا ته ورکړل او خپله په کابل کې دیره شو او له دې ځایه یې د سند تر سیند پورې خارل. همایون د کورنیو چارو له ډاډمن کولو وروسته په ۱۵۵۴ پورې له پنځلس زرو سرتیرو سره یو ځای د هندوستان د نیولو په نیت له سند څخه پورې وت. هغه د سوري دولت دننه د افغاني سردارانو له بې اتفاقي څخه ښه خبرو، نو په ډیر آساني یې سکندر شاه سوري ته ماتې ورکړه او افغاني دولت یې ړنګ کړ. په هر حال د سلطنت خطبه وروسته تر پنځلسو کالو څخه په ډهلي ښار کې د همایون په نوم ولوستل شوه، خو په بل کال همایون له بام څخه را ولوید او مړ

شو. اکبر جلال الدین د همایون زوی او ځای ناستی په هند کې د افغانانو له پاڅونونو سره مخامخ شو. په افغانستان کې هم صفوي لښکرو په ۱۵۵۲ کې کندهار ونیو. د بدخشان والي مرزا سلیمان په ۱۵۵۹ کې وغوښتل چې بلخ د ماورالنهر له ازبکي دولت څخه را خپلواك کړي په دې موخه یې یو څو ځله پوځ چمتو کړ، خو د بلخ د حاکم پیر محمد خان له خوا له کلکې ماتې سره مخامخ شو، په ۱۵۲۳ کې د افغانستان یو خپلواکي غوښتونکی (شاه ابو المعالي چې په هند کې یې د اکبر جلال الدین په ضد فعالیتونه کړي وو او ناکام شوی و، کابل ته راغی. دا مهال د کابل حکمران د بابریانو کوچنی شهزاده محمد حکیم مرزا، د همایون زوی و، خو چارې ټولې ددهٔ مور په لاس کې وې. شاه ابوالمعالي د محمد حکیم له مور څخه لومړی د همایون لور ځانته واده کړه، وروسته یې بیا د محمد حکیم مور او نور بابري ځواکمن سرداران ووژل او په خپله یې محمد حکیم منګولو کې ټینګ او د حکومت چارې یې واك لاندې راوستلی. د بدخشان والی سلیمان مرزا نور فرصت ور نه کړ او د کابل خواته یې لښکر را ولیږ. غوربند کې یې ابوالمعالي ته ماتې ورکړه او په چاریکارو کې یې ونیو او عدام یې کړ او د محمد حکیم حکومت یې بیرته ټینګ کړ. د کابل مامورینو د سلیمان واکمنی نه غوښتنه او له هغه سره یې ضد وکړ، سلیمان بیا کابل ته راغی او تښتیدلی محمد حکیم یې تر پېښور پورې و ځغلاو او بیرته کابل ته را ستون شو او سرغړوونکی مامورین یې د کابل په ښار کې کلا بند کړل. اکبر جلال الدین له هند څخه د محمد حکیم ملاتړ وکړ، کابل ته یې را ولیږ، سلیمان کې چې د مقابلې زورنه و، په ۱۵۲۴ کې بیرته بدخشان ته ولاړ او حکیم د کابل او غزني په حکومت پاتې شو.

کله چې سلیمان بیرته خپل ځواکونه پیاوړې کړل بیا په کابل راغی او ښار یې کلا بند کړ. محمد حکیم مرزا پېښور ته و تښتید. اکبر جلال الدین د محمد حکیم ماما فریدون د خپل خور یې مرستې ته پېښور ته ور ولیږ، خو دوی دواړو د لاهور د نیولو خواته پوځونه ولیږل، نو ځکه په ۱۵۲۲ کې په خپله اکبر جلال الدین له آګرې څخه د لاهور د ساتلو په خاطر راغی، دا مهال سلیمان مرزا بیرته له کابل څخه بدخشان ته تللی و، نو ځکه محمد حکیم مرزا له لاهوره څخه پېښور ته راغی او په کابل کې یې خپل ځای بیرته ونیو. له هغه ځایه چې سلیمان بدخشان ته ورغی هلته د بدخشان د دربار غټانو د سلیمان او د کلن لمسی شهرخ د هغه په وړاندې ودراو، نو ځکه په کندز او د هغه په شاو خوا کې د نیکه او لمسي ترمنځ ډیرې جګړې وشوې، په پای کې سلیمان د تخار او بدخشان حکومتونه د خپل لمسی په نوم کړل او په ۱۵۷۵ کې ذ حج په نامه روان شو، خو حج ته نه ولاړ، بلکې ایران ته ورغی او هلته یې له طهماسب صفوي څخه نظامي مرسته وغوښته ترڅو په هغو سره په افغانستان کې خپلې هیلې بشپړې کړي، سلیمان لا په هرات کې و، چې طهماسب مړ شو، نو سلیمان زړه توری شو او اړ شو چې د کندهار له لارې څخه کابل ته راشي او له محمد حکیم مرزا څخه مرسته و غواړي، محمد حکیم له هغو سره مرسته وکړه او په تالقان کې یې له خپل لمسی شهرخ سره جګړه وکړه. شهرخ ماتې وخوړه او کولاب ته ولاړ، نو په دې

Scanned by CamScanner

توګه تخارستان له هندوکش څخه تر تالقان پورې د سلیمان لاس ته ورغی او محمد حکیم له تخارستان څخه بیرته کابل ته ستون شو. دې پسې وروسته محمد حکیم لاهور باندې یرغل وکړ. خو په ۱۵۸۰ کې یې د خپل مشر ورور اکبر جلال الدین له خوا ماتې وخوړه او بیرته کابل ته ستون شو. اکبر هغه تر کابل پورې پسې واخیست، محمد حکیم تسلیم شو او بښنه یې وغوښته. نو بیرته د کابلستان او زابلستان په حکومت مقرر شو.

هند ته د اکبر بیا ورتګ څخه وروسته. عبد الله خان ازبک په ۱۵۸۳ کې بدخشان باندې یرغل وکړ او هغه ولایت یې ونیو. مرزا سلیمان او لمسي یې شهرخ دواړه کابل ته و تښتیدل. مرزا محمد حکیم د کابل والي، شهرخ. اکبر دربار ته او مرزا سلیمان لغمان ته ولیږ او هلته یې اقطاع او تیول ورکړل، سلیمان په ۱۵۸٦ کې یو ځل بیا بدخشان ته ولاړ، خو د محمود سلطان ازبک او د بلخ د حاکم عبدالمومن خان له خوا له ماتې سره مخامخ شو. نو ځکه د کابل له لارې د اکبر دربار ته ورغی او په ۱۵۸۸ کې په لاهور کې مړ شو. حال دا چې محمد حکیم مرزا په ۱۵۸۴ کې لا مخکې په کابل کې مړ شوی و. اکبر د هغه زامن (کیقباد او افراسیاب) په راولپنډۍ کې خپل دربار ته و منل. کابل چې وروسته د محمد حکیم له مړینې څخه د اکبر لاس ته ورغلی و، سمدستي هندو (کتوران) د والي په توګه او صدارعظم یې میر شریف و ټاکل شو. په بل کال (په ۱۵۸۷ کې) زین خان کوکه د کابلستان حاکم و ټاکل شو. زین خان له کابل څخه تر سند سیند پورې د لارو د ساتلو په خاطر ګڼ شمیر ساتونکي و ګومارل، تر څو د افغاني خپلواکی غوښتونکو څخه لاره په امن کې وي. اکبر جلال الدین لکه د بابر او همایون په شان په پرله پسې ډول له سند څخه نیولې تر خیبر پورې ټول پښتانه ټکول، تر څو چې په ۱۵۸۸ کې په خپله کابل ته راغی او د بابر بڼ بنسټ یې کینبود او د کابلستان حکومت یې قاسم خان کابلي ته ورکړ او بیرته هند ته ور وګرځید.

اکبر په ۱۵۹۴ کې د شاه بیګ کابلي تر مشرۍ لاندې یو لښکر کندهار ته ولیږ، د کندهار صفوي حاکم چې د دفاع توان نه درلود، ښار یې ورته تسلیم کړ، نو ځکه خطبه د اکبر په نوم ولوستل شوه. اکبر چې د هند لویه برخه له مخالفو افغانانو څخه پاکه کړې وه سند ته ځیر شو او د هغه ځای ارغوني حکمران یې لرې کړ او سند یې په سیده توګه د هند تر واکمنۍ لاندې راوست.

د کندهار حاکم شاه بیګ کابلي ګرمسیر خپل واک لاندې راوست او د ژوب د کاکړو پاڅون یې هم په ۱۵۹۵ کې وټکاو. همدارنګه په ۱۲۰۰ کې یې د کندهار په شمال کې د شهرخ د زوی مرزا حسن (د بدخشان پخواني حاکم) په مشرۍ د هزاره ګانو پاڅون غلی کړ، وروسته تر ماتې مرزا حسن د غور خواته و تښتید.

په پای کې اکبر جلال الدین د هند ځواکمن پاچا په ۱۲۰۵ کې په هند کې مړ شو، ځای یې شهزاده سلیم ونیو چې په جهانګیر مشهور او په اګره کې پر تخت کیناست. د همدې پاچا پر مهال صفوي لښکرو د هرات د حاکم حسین خان په مشرۍ پر کندهار یرغل وکړ، خو د کندهار حاکم شاه بیګ ته جهانګیر له لاهور څخه د ملاتړ مرسته ور ورسوله او صفوي یرغلګر یې په شا و تمبول. جهانګیر په ۱۲۰۵ کې په خپله کابل ته راغی او بیا بیرته هند ته ولاړ. پنځلس کاله وروسته (۱۲۲۱ کې) عباس صفوي پر کندهار

Scanned by CamScanner

یرغل وکړ او ښار یې له بابري حاکم عبدالعزیز څخه ونیو. جهانګیر په ۱۲۲۵ کې بیا کابل ته راغی، خو کوم مهم کار یې و نه کړ او هند ته وګرځید. په داسې حال کې چې کندهار لا هم د صفوي په لاس کې پاتې شو. جهانګیر په ۱۲۲۷ کې مړ شو. نامتو ملکه نور جهان بیګم د همدې پاچا ښځه وه.

په ۱۲۲۷ کې شهزاده خرم د هند پاچا شو او د شاه جهان په نوم و پیژندل شو. په همدې کال د بلخ د حاکم (ندر محمد خان) لښکر په بامیان یرغل وکړ، خو د کلا له ساتونکي خنجر خان څخه یې د ضحاک کلا و نشوه نیولای، نو کابل ته ولاړ او دری میاشتې یې ښار کلا بند کړ.

شاه جهان یو لښکر له هند څخه د هغه د دفاع په خاطر را ولیږ، دغه لښکر به د باریکاو سیمې ته را رسیدلی و چې ندر محمد خان به ۱۲۲۸ کې د بلخ خواته په شا ولاړ، نهه کاله وروسته د کندهار صفوي حاکم علیمردان خان واوریدل چې سیا وخش له اته زره سرتیرو سره له صفوي دربار څخه مخ د کندهار په لور را روان دی، هغه د داسې پیښې اټکل نشو کولای نو ځکه یې په ۱۲۳۷ کې په کندهار کې خطبه د شاه جهان په نوم کړه. د کابلستان بابري حاکم سعید خان د شاه جهان په فرمان کندهار ته ورغی او له ایران څخه راغلي لښکر ته یې د مرغاب تر غاړو ماتې ورکړه، په دې توګه د کندهار ولایت هندوستان پورې وتړل شو. کله چې شاه جهان په ۱۲۳۹ کې په خپله کابل ته راغی، د کندهار پخوانی حاکم علي مردان خان یې د کابل په حکومت وګومار، همدې سړي د کابل نامتو انځوریزه چار چته او د باغ علیمردان بڼ جوړ کړل، وروسته بیا په نولسمه پیړۍ کې دغه چار چته د انګریزانو د یرغلګر پوځ په لاس وسوځول شوه او ونړول شوه.

شاه جهان په ۱۲۴۴ کې له کابل څخه یو لښکر مخ په شمال وروست چې تر کهمرد او اندراب پورې ورسید او له ازبك مدافع ځواکونو سره یې لړ څه کوچنې جګړې وکړې خو د هغه لښکر و نه شو کولای چې د هندوکش په شمال کې کوم لوی بریالیتوب ترلاسه کړي، خو د هندوکش د شمال درو د بیګناه خلکو مال او څاروي یې په بیرحمانه ډول لوټ کړل شاه جهان په ۱۲۴۵ کې په خپله کابل ته راغی او لښکر یې یو ځل بیا د افغانستان شمال ولایتونه ته حرکت وکړ. دغه لوی لښکر د سیغان، نارین او کندز له لارې تر بلخ پورې ولاړ. ددغه لښکر سپهسالار شهزاده مراد بخش د شاه جهان زوی و او همدا چې د ندر محمود خان زامن (سبحان قلي او بهرام خان) ورته تسلیم شول، بلخ ته ننوت، خو ندر محمد خان لا مخکې اندخوی ته تللی و. مراد بخش ته چې په کندز، بلخ، شبرغان او اندخوي کې د ازبکو د سپرو جنګیالیو د خرپ او ترپ یرغلونو ګوابن تر سترګو کید، په بلخ، تخار، شبرغان او میمنه کې د حاکمانو له ټاکلو رووسته کابل ته راغی او شاه جهان هند ته ولاړ.

یو کال وروسته (په ۱۲۴۶ کې) شاه جهان اړ شو چې کابل ته راشي، دا ځکه چې ندر محمد خان له صفوي دربار څخه د مرستې د تر لاسه کولو لپاره ایران ته تللی و او بیرته راغلی و او میمنه یې کلا بنده کړې وه، بل زوی یې قتلغ محمد له پنځه زره سپرو سره بلخ کلابند کړی و او وروسته بیا سبحان قلي و کولای شول چې خپل ورور عبدالعزیز د بخارا حاکم د ماورالنهر له لښکر سره یو ځای د خپل پلار مرستې ته را وغواړي او بلخ یې له بابري حاکم څخه ونیو.

دا ځل شاه جهان خپل زوی اورنګزیب د یو بشپړ لښکر په سر کې د بلخ د نیولو لپاره ور واستاو، د بلخ

Scanned by CamScanner

انونکی عبدالعزیز خان له هغه پوځ سره چې له ماورالنهر څخه د ندر محمد خان د ملاتړ لپاره راغلی و، د بلخ د تیمور آباد په سیمه کې د اورنګزیب مخه ونیوله. وروسته له څو جګړو څخه چې د بلخ اوخوا کې وشوې، عبدالعزیز خان اړ شو چې ماورالنهر ته ولاړ شي او اورنګزیب په سوبمن ډول بلخ ته ننوت. شاه جهان چې له کابل څخه د جګړې حالات کتل ډېر ژر د ازبک سپرو لښکرو له ګواښ څخه خبر شو او د هغو د یرغل له امله د لوړ لګښت او زیان په اندازه هم پوه شو. نو ځکه یې له ندر محمد خان سره په لیکلي بڼه سوله وکړه. د هغه حکومت یې د افغانستان پر شمالي ولایتونو له بلخ څخه تر میمنې پورې په رسمیت و پېژاند او په خپله له کابل څخه هندوستان ته وګرځید. اورنګزیب هم بلخ پرېښود، کابل ته راغی او له دې ځایه هند ته ولاړ. ندر محمد خان د خپل حکومت د بیرته تر لاسه کولو څخه وروسته بلخ ته ننوت او له بخارا څخه یې د خپل زوی عبدالعزیز د مرستې د غوښتنې په بدل کې هغه ته د بخارا او ټول ماورالنهر حکومت تصدیق کړ. په دې توګه عبدالعزیز د ماورالنهر جنیدیه لړۍ پنځم پاچا شو.

په ۱۶۴۷ کې دوهم صفوي عباس (عباس دوم صفوي) له پنځوس زره سرتیرو سره راغی او کندهار یې وروسته تر دوه نیم میاشتو کلابندۍ څخه ونیو او بست او زمینداور یې هم ور سره ونښلاو، صفوي د مهراب په مشرتوب لس زره سرتیري په کندهار کې پرېښودل، په خپله د هرات او مشهد له لارې ایران ته ولاړ. دغو ټولو پېښو په ترخ کې اورنګزیب په ملتان کې و او د هند له خوا د نیول شوي افغانستان دفاع ور په غاړه وه، هغه و نشو کولای چې په مناسب وخت کې کندهار ته را ورسیږي، خو ددې پر ځای یو کال وروسته له یوه لوي او یا زریز لښکر سره د کابل او غزني له لارې کندهار ته ورسید او شاه جهان هم کابل ته راغی، دغو بهرنیو یرغلونو د افغانستان کرنه دومره زیانمنه کړې وه چې نور یې نشو کولای چې د ښکیلاکګرو د لښکر لپاره څه تولید کړي، نو د هغه په پوځ کې لویه کاختي ولګیده. آن دا چې له کابل څخه تر کندهار پورې یو من غله او بوس په دوو خامو روپیو هم نه پیدا کیدل، دغه بیه په دغه مهال کې یوه حیرانوونکی بیه وه. له بلې خوا د کندهار صوفي حاکم مهراب له کندهار څخه کلکه دفاع کوله، په تیره بیا چې دا مهال له ایران څخه هم مرستندوی پوځ را ورسید او کلابندي څلورو میاشتو ته اوږده شوه، ژمی را روان و او په بیدیاوو کې وابښه پاتې نه شول، شاه جهان چې دا حال ولید، له کابل څخه هند ته ولاړ او اورنګزیب یې بیرته ملتان ته ولیږ، خو شاه جهان لا هم غوښتل چې کندهار ونیسي، دا ځکه چې دغه ښار د ماورالنهر، ایران او هند ترمنځ د سوداګریزو کاروانونو لاره وه او ډېر زیات ګمرکي عایدات یې لرل. له دې پرته د کندهار کلک ښار پر هند باندې د یرغل کولو یو مهم نظامي مرکز و، نو ځکه شاه جهان په ۱۶۵۰ کې یو شپیته زیریز پوځ سره له ۴۰ توپونو او لسو جنګي پیلانو د اورنګزیب تر مشرۍ لاندې له ملتان او سند څخه کندهار ته واستاو او خپله هم کابل ته راغی، د حصار جګړه دوه میاشتې او اته ورځې اوږده شوه، خو بیا هم کندهار و نه نیول شو، نو په ژمي کې اورنګزیب له کندهار څخه او شاه جهان له کابل څخه بیرته ستانه شول او هند ته لاړل.

په بل کال (په ۱۶۵۱ کې) د اورنګزیب پر ځای شهزاده داراشکوه یعنې د هغه سیال د کندهار نیولو ته و

ګومارل شو، هغه له اویا تنو غټو افسرانو او اویازره سپرو او پلیو او لس زره ټوپک ویشتونکو او شپږ زره پیل لرونکو او پنځه سوه نقب کیندونکو او ۵۰۰ سقاوانو، درې زره اوښانو، ۲۰۰ پیلانو، څلور زره پانړ (هوايي اور غورځوونکي غشي)، پنځۀ زره منه باروتو، پنځۀ سوه منه سرپو، ۵۴ کوچنیو او لویو توپونو او دیرش زره ګاوله توپونو سره د کندهار ښار کلا بند کړ. د کندهار خلکو او صفوي نامتو افسر مهراب لکه د پخوا په شان په زړه ورتوب سره د ښار دفاع کوله، دغه یرغل او دفاع پنځه میاشتې اوږد شو، په پای کې هند د تل لپاره د کندهار له نیولو مخ واړاو. د داراشکوه لښکر بیرته هغه ته ستون شو، له دې څخه وروسته کندهار په پریکنده توګه د ایران تر واکمنې لاندې پاتې شو په واقعیت کې د افغانستان ویش او تجزیه په یوه ثابتې قالب کې راغله، همدا بڼه تر اتلسمې پیړۍ پورې پاتې وه. شاه جهان وروسته تر ۳۱ کلونو پاچاهي څخه په ۱۶۵۷ کې د خپل زوی په لاس بندي او په ۱۶۶۵ کې مړ شو.

اورنګزیب په ۱۶۵۷ کې د پلار له بندي کولو او په خپل ورور باندې تر بریالیتوب وروسته پاچا شو او څه نا څه پنځوس کاله (تر ۱۷۰۲) پورې یې سلطنت وکړ. سره له دې چې د هغه پر مهال لکه د همایون، اکبر جهانګیر او شاه جهان د مهالونو په شان هنر او فرهنګ ته پاملرنه کیدله، خو اورنګزیب د خپلو نیکونو پر خلاف په مذهب کې متعصب، په سیاست کې شدید او کلک زړه لرونکی و. اورنګزیب د هندوستان د بابري لړۍ تر ټولو ځواکمن پاچا و چې د دکن د ټاپو لویه برخه یې هم ونیوله او د خپلې امیراتورۍ کړۍ یې د هندوستان په ټوله نیمه وچه (د دکن د ټاپو وزمې له جنوب څخه پرته) ټینګه کړه، خو له دې سره سره یې هم د افغانستان نیول شوبو سیمو کې ښه ورځ تیره نه کړه او تل د خلکوله خپلواکي غوښتونکو پاڅونونو سره مخامخ و، آن دا چې یو ځل په (حسن ابدال) کې د پاڅون له ټکولو لپاره په خپله راغی او درې کلونه یې تیر کړل. هغه کابلستان، زابلستان، بونیر او نوښار خپلو حکامو او کومکیانو (د حاکمانو مرستیالانو) ته وسپارل، خو یوسفزیو د هغه پر ضد پاڅونونو ته دوام ورکړ، خو ډیر په کلکه وټکول شول او په کابل، پیښور او آن د هند په پلازمېنه کې یې د سرونو څلي جوړ کړل وروسته بیا پښتنو د ایمل خان او خوشحالخان په مشري پاڅونونه وکړل او د اورنګزیب لوی افسر (آغه خان) د علي مسجد په سیمو کې د مومندو د کلك ګوزار لاندې راغی او دغو جګړو او پاڅونونو دوام درلود. کله چې اورنګزیب له حسن ابدال څخه ډیلي ته ولاړ د لغمان خلك پاڅیدل او له آغه خان سره و نښتل او هغه یې په ۱۶۹۰ کې کله چې بیرته هند ته ستینده، وواژه. اورنګزیب هم اړ شو چې په کابل او پیښور کې د خپل واك په ساتلو قناعت وکړي.

په ۱۷۰۷ کې چې کله اورنګزیب مړ شو د هندوستان بابري دولت هم مخ په ځوړ شو او په هره سیمه کې ملوك الطوايفي را ځرګندې شوې، مرهټه، جټانو او سیکانو د هندوستان په جنوب، اګره او پنجاب کې پاڅونونه وکړل، دکن او د بنګال ولایتونو د خپلواکۍ دعوه پیل کړه او په دې توګه د بهرنیو ځواکونو د لاسوهنې لپاره لاره هواره شوه تر څو چې نادر افشار او بیا احمد شاه ابدالي یو په بل پسې هندوستان ته ورغلل. کلکته، مدارس او بمبیي د برتانوي تجارتي کمپنۍ په لاس کې ولویدل او په پای کې هندوستان د شلمې پیړۍ تر نیمایي پورې د خپلواکۍ ورځ په سترګو و نه لیده.

په هر حال، دغه د بابري حکومت غټانو د اورنګزیب له مرګ څخه وروسته په پېښور، کابل او غزني کې

Scanned by CamScanner

تر اتلسمې پېړۍ پورې د سیمه ییزو فیوډالانو په مرسته سیمه ییز حکومتونه جوړ کړل چې د هند د بابریانو او د ایران د صفویانو ترمنځ پوله د مقر سیمه وه. په دغو سیمو کې سیمه ییزو فیوډالانو د صفوي او بابري دولتونو له سیالیو څخه ځانته شخصي ګټه اوچتوله. کله به یې له یوې خوا او کله به یې له بلې خوا څخه پیسې او امتیازات تر لاسه کول او تر هغه وخته پورې چې یې ګټې ډاډمنې وې. تر هغه پورې به یې له پردیو ښکیلاکګرو ځواکونو سره سازش کاو. تاریخ لیکونکی سلطان محمد خالص (چې سلطاني تاریخ یې لیکلی) په خپل کتاب کې د ملخي خان توخي په کورنۍ کې د اورنګزیب منشور مطالعه کړی دی. دا هماغه کورنۍ وه چې د ګرم آب او د غزنین د سیمو ترمنځ یې د خلکو خاني په غاړه وه همدارنګه د ابدالي خانانو کورنۍ هم په ارغستان کې همداسې رول لوبولی و. د بېلګې په توګه سلطان محمد حسین خان سدوزایي د (ده شیخ- ارغستان) په سیمه کې په ځرګنده سره د ابدالیانو د یوې برخې د مشر په توګه د صفویانو پلوی توب وکړ. نو له همدې امله د ایران دولت هغه ته د (مرزا) لقب او یو ښکلی توسیری لرونکی یو آس ورکړل. په داسې حال کې چې د هند دولت د حسین خان بل سیال شیرخان ابدالي ته د (شهزاده) لقب ورکړ و. په دې ډول د افغانستان خلك له یوې خوا د خانانو او له بلې خوا د بهرنیو ښکلاکګرو ترمنځ اوړه شوي وو. په کابلستان او زابلستان کې د هند وروستی بابري حاکم ناصرخان و چې په اتلسمه پېړۍ کې د ابدالي ځواکونو په لاس له سند څخه پورې غاړې ته وځغلول شو.

په هر حال، وروسته تر اورنګزیب څخه په ۱۷۰۷ کې چې توانیدلی و چې د پیسو او بې اتفاقۍ اچولو په زور او د روحانیونو او غرض لرونکو فیوډالانو په مرسته د مبارزو مخه ونیسي، د هند بابري دولت هم مخ په ځوړ شو- د هغه له مړینې څخه وروسته تر ۱۷۱۸ پورې یعنی د محمد شاه تر پاچا کیدو پورې د دولسو کلونو په ترځ کې څلور پاچاهان راغلل او ولاړل او ووژل شول. همدارنګه د محمد شاه پر مهال نادر افشار (۱۷۳۸) او بیا احمد شاه افغان (۱۷۵۲) پر هند واکمن شول. په دې توګه وروسته تر اورنګزیب څخه د هند دولت او حاکمان د افغانستان په ختیزو ولایتونو کې د سیاست توره کېښوده او د نرمښت او روغې لاره یې ونیوله، دا ځکه چې نور نو د هند مرکزي دولت له کورني اړ- دوړ او نفاق سره مخامخ و او د هند د ولایتو هر والي د خپلو سیمو د خپلواکه کولو په لټه کې شو او د هند د شمال او جنوب واکمن یواځې په نوم له مرکزي دولت سره تړاو درلود. په همداسې یوه حالت کې هندي واکمن په پېښور، کابل او غزني کې له خلکو سره سازش، روغې او نرمښت ته اړ شول او خلك هم ورو ورو په ملکي، نظامي او سوداګریزو چارو او سیاست کې برخمن شول، په تیره بیا د هېواد د ختیزو غرنیو سیمو خلك په دغو چارو کې پر مخ ولاړل چې پخوا د کابل، غزني، کندهار او د پېښور د هوارو سیمو په پرتله په کرنیزو او صنعتي چارو کې وروسته پاتې او له سوداګرې پلوه بېوزله وو، همدارنګه افغاني غرو کې میشت قبایل په بشپړ ډول خپلواك شول، په دغه ډول شرایطو کې د افغانستان د ختیزو ولایتونو د خپلواکۍ غوښتلو مبارزاتو او پاڅونونو ځلوېښتې کاله دام وکړ او وروسته یې بیا خپل ځای آرام او له روغې جوړې ډك ژوند ته پرېښود او سیاسي او اقتصادي حالت ښه شو، دغې نوې پانې د هېواد د ملي خپلواکۍ لپاره لاره داسې هواره کړه چې د اتلسمې پېړۍ په منځ کې د هېواد ټول ختیز ولایتونه تر سند پورې په یوه غږ را پاڅېدل او یو خپلواك دولت یې جوړ کړ.

# څلورم

## د تجزیې او ویش په دوره کې د افغانستان ټولنیز وضعیت

د افغانستان تجزیه او ویش د شپاړسمې پیړۍ له پیل څخه د اتلسمې پیړۍ تر لومړۍ نیمایي پورې دو
سوه او څوکاله په لویدیزو ولایتونو کې او دوسوه او څوکاله په ختیزو او شمالي ولایتونو کې دوا
وموند. دغه څه نا څه دوه نیمو پیړیو بهیر د اروپا د نوې دورې زېږه او اصلي کلونه وو. چې د هغو بېا
ترخ کې په لویدیځ کې د منځنیو پیړیو زر کلنه زړه نړۍ په نوې نړۍ بدله شوه. د فیوډالیزم له منځه تلل
او د بانکوالۍ رامنځته کېدل د مرکزي دولتونو له را پیدا کېدو سره یوځای و چې صنعتي او علمي پر
مختګونه او د سمندري لارو پیژندنه او په امریکا، افریقا او هند کې د بندرونو پیژندل ټول په همدې
کلونو کې پېښ شول. د اروپا صنعتي او ادبي رنسانس، مذهبي اصلاحات. د عقیدې آزادي، د نانت
فرمان، انګلیسي مشروطیت، د اقتصادي پوهانو پاملرنه اقتصاد او ثروت، کار، صنعت، سوداګرۍ او
مالیاتو ته. په سیاسي تشکیلاتو کې د حکماوو او فلاسفه وو څېړنه او بالاخره د فیوډالي مطلقه
دولت، قدرت پر ضد مبارزه، حقوقي آزادي، د عدم مساوات پر ضد مبارزه، د ملي حکمتونو غوښتنه
او په لویدیځ کې داسې نور اصلاحات ټول د همدې دورې د علمي او اقتصادي بشپړتیا پایله وه. چې په
پایله کې یې لاره د فرانسې ستر انقلاب ته پرانیسته او د بشر حقوق اعلام شول.
په داسې حال کې چې د افغانستان په دغه دوره کې مرکزي دولت او خپله ملي خپلواکي له یوه نسبتاً پر
مختللي تجارت او زراعت سره له لاسه ورکړل. نور نو د هرات مکتب او صنعتي او ادبي پرمختیا نه تر
سترګو کېده. د افغانستان اقتصادي او فرهنګي مرکزونه سره پاشل شوي وو، ښارونه مخ په خوړ وو
زمونږ د هیواد د ننه د شاوخوا دریو نورو هیوادونو لاسوهنې او یرغلونو کرنې، صنعت او ابولګولو ته
زیات زیانونه اړولي و. نورنو د افغانستان سراسري سوداګري نه وه، درې اړخیزو بهرنیو ګمرکي
تحمیلاتو د هیواد د ننه بازارونه ساړه کړي وو او د ترانزیتي مال التجارة عوایدو ډېره برخه د صفوي
دولت جیب ته ورتله. همدارنګه مدرسې او د هغو استادان او خیریه موقوفات له منځه تللي وو. له دې
امله چې کوم هڅوونکي مرکز نه و، که چیرې کوم دانشمند او هنرمند هم پیدا کېد، نو هغه به هم پر تمین
او هوسا هندوستان ته ور جذب شو، لکه بایزید پوراني هروي، سلطانعلي اوبهي، عارف کابلي،
عبدالصمد بخشي، محمد صالح بدخشي، یاري هروي، په بخارا کې ویکتای بلخي، آتشي کندهاري،
ارزاني، اماني کابلي، الله یار بلخي، باقي باالله کابلي، بنایي کابلي، بیکس غزنوي، جهانګیر هروي،
تاش محمد قندوزي، حسام الدین بدخشي، خواجه حسن استاد فیضي، ساغري هروي، کاهي کابلي،
ملاشاه بدخشي. شیداي بلخي، صَبوحي بدخشي، صبوحي کابلي، نیازي بدخشي، عبدالرزاق مدرس

کابلی، عزت هروی، عشقی کابلی، عوض محمد بلخی، عیانی کابلی، غیوری کابلی، فاضل کابلی، فخری هروی، میر فخرالدین میمنه ګی، فصیحه هروی، فیاض هروی، فیض بلخی، کامل بدخشی، کمال شبرغانی، لعلی بدخشی، مدعی بدخشی، میرکلان هروی، میرک هروی، نعمت الله هروی، هدایت بدخشی او نور چې ټول هندوستان ته تللي وو.

د هغه توپیر له امله چې د ایران او هندوستان په دربارونو کې و د افغانستان زیات شمیر هنرمندان او دانشمندان هند ته جذب کیدل، دا ځکه چې هند بی تعصبه خریدار او د پوهې او هنر سخي و.

د بیلګې په توګه کله چې محمد اسلم هراتی هند ته ولاړ ډیر قدر او عزت یې وشو او د قاضی په توګه مقرر شو او شاه جهان دغه فاضل سړي ته د هغه د وزن په اندازه شپږ زره او پنځه سوه سره زر وبښل، حال دا چې امیر خان د ایران حاکم په هرات کې د شاعر آګهی هروی ژبه او لاسونه ځکه ور پرې کړل چې هجو او یوه نیوکه یې کړې وه. همدارنګه د ایرانی دولت عمالو هوتکی شاعر عبدالرحیم ایران ته تبعید کړ.

له همدې امله نور نه کاشفی، نه جامی، نه علیشیر او نه هم بهزاد په افغانستان کې پیدا شو. ادبیات او اسلامی تصوف هم زیاتره مخ په ابتذال ولاړ. سره له دې چې په دغه دوره کې دري نظم د هندي سبک تر اغیزې لاندې راغی، خو هیڅ کوم اوچت شاعر په دغه سبک کې په افغانستان کې تر سترګو نه شو او هیڅ کوم نامتو عالم هم تر سترګو نه شو. خو پښتو ادب تر ځانګړیو شرایطو لاندې ښه ونیوه او لږ پرمخ ولاړ، په نثر کې د بایزید روښان مکتب او د ملا درویزه مکتب او په نظم کې د خوشحالخان مکتب رامنځته شو.[1]

وروسته بیا یو شمیر نور شاعران لکه حمید، رحمان بابا، عبدالقادر خټک او کاظم خان شیدا او نور را څرګند شول. په همدې دوره کې بایزید روښان پښتو ژبې ته یو لیکدود غوره کړ. په دغه دوره کې ښوونې او روزنې هم خپله همغږې له لاسه ورکړې وه، د روزنې شعار همدا و چې «هر څه چې مخې ته راغلل ښه راغلل.»

ددغې دورې په ترځ کې په افغانستان کې هیڅ کوم نوی ښار، کلی، د اوبو بند، یا ویاله جوړه نه شوه، هغه څه هم چې له پخوا څخه موجود وو، ورو ورو په له منځه تلو و، دا ځکه چې هغو بهرنیو حکامو چې مرکزونه یې په بهر کې وو، د افغانستان پرمختیا ته کوم اړتیا نه درلوده او نه یې هم خپلو دربارونو ته کوم مسئولیت درلود. د هغوی لویه دنده همداوه چې په ویشل شوي افغانستا کې فقط د ارتباط لارې وساتې، مالیات راټول کړي او د خپلو نظامونو لګښتونه له خلکو څخه ترلاسه کړي او هرډول ملي پاڅونونه وځپې، نو ځکه یې د دوه نیمو پیړیو په ترځ کې یې په بلخ کې پرته له دوه- درې مدرسو څخه او په مشهد مذهبی ښارکې د یو څو ودانیو له جوړولو او د هیواد په شمال لویدیځ کې د ازبکیه دولت د حملې د مخنیوی په خاطر د نظامی پړاوونو او په کابل او کندهار کې د هندوستان د بابری پاچاهانو د استراحت لپاره د یو څو ښونو او یو څو جوماتونو څخه پرته یې نور هیڅ هم ونه کړل. ددغې دورې ډیرې

---

[1]- دلته د مولف موخه یو نوی مکتب رامنځته کول دی، حال دا چې پښتو لیکدود له دې څخه ډیر مخکې (۱۰۰۰) کاله وړاندې د غزنوي سلطان محمود پرمهال خپل روش درلود چی د سلطان محمود یو نامتو وزیر مولانا میولدی ورته کار کړی و (و.ګ: ډاکتر ناظم. غزنوی سلطان محمود. ژ.)

مهمې ودانۍ په کابل کې د ګدري جومات، چار چته، د بالاحصار رغول او بابر بڼ او د کوهدامن په استالف کې د یو بڼ جوړول، د کابل او جلال آباد پر لاره د مملې (نملې) بڼ، د کندهار د پخوانۍ ښار تر خوا چهل زینه او ځو زیارتونه وو. البته د پردیو یرغل په وړاندې ددفاع او د نیواکګرو دولت د افسرانو او حاکمانو د اوسېدلو لپاره په پېښور، کابل، کندهار، هرات، میمنه، فاریاب، جوزجان، بلخ او تخارستان کې نظامې کلاوې هم جوړې شوې، حال دا چې د بخارا، اصفهان، اګرې او ډیلي ښارونه په همدې دوره کې آباد او مشهور شول.

په دې توګه د افغانستان د وېش او تجزیې په دغه دوه نیمو پېړیو دوره کې نه یواځې دا چې د افغانستان د تمدن بشپړتیایې تګلوری ودرید، بلکې د هیواد د مادي او معنوي انحطاط او تنزل دوره یې هم بللای شو. په دغه دوره کې د افغانستان خلکو خپلو څلورو خواوو سره اړیکې له لاسه ورکړې، نو ځکه د انحلال خطر رامنځته شو، دا ځکه چې له دریو خواوو څخه د هیواد د وېش او تجزیه د یوې وبا په شان وه چې ورو ورو د هیواد خپلواکۍ او یووالي بې له منځه وړ.

په دغه دوره کې د درې ګونو دولتونو حکام او افسرانو په کلاوو کې د ننه اوسېدل او لښکر یې په ښارونو کې ژوند کاو، ځړ ځایونه او شنه لمنې ددوی د پلیو او سپرو عسکرو د آسونو او نورو څارویو ځای او باغونه یې د ګرځیدو ځایونه وو. دغو حکامو او افسرانو د افغانستان د ننه پراخه لاس اود عمل خپلواکۍ درلوده، هرڅه ول یې چې غوښتل هغسې حکمرانې یې کوله. عادي خلک او خواریکښ بزګران اړ وو چې د نیواکګرو لښکر او حکام ماړه کړي او د اردو او اداري لګښتونه پوره کړي. په افغانستان کې هیچا نشو کولای د عوارضو د حواله کولو او بېلابېلو مالیاتو د وضع کولو په وړاندې څه ووایي او د بیګار په وړاندې غږ اوچت کړي، دا ځکه چې کوم قانون او د مراجعه کولو کوم مقام نه و، وسله وال پاڅونونه هم د ټکولو تر ګواښ لاندې وو، دا ځکه چې د هیواد هر لوری له یوه منظم او پیاوړي دولت سره مخامخ و او د خلکو پاڅون هر څل د پوځ په اور له منځه تللو، په تیره بیا چې د نیواکګرو د پوځ او اداري ترخنګ کورني سازش کوونکي فیوډالان هم ورسره وو. دوی د غوره او پراخو ځمکو د ترلاسه کولو په خاطر او په سیمه کې د خپل واک د ټینګولو په خاطر له بهرنیو نیواکګرو سره جوړ جاړی کاو ځمکې او پیسې یې ترلاسه کولې او بهرنیو حکمتونو ته یې مالیات او عوارض ټولول او په خلکو یې حوالي او بیګارونه ترسره کول او د سیمې حکومتونه هم ددوی په لاس کې وو، په دې توګه خلک د دوو قوتونو تر بیګار لاندې وو. د وېش او تجزیې په دوره کې روحانیونو هم کوم غږ اوچت نه کړ او د هیواد د نجات او خپلواکۍ په لاره کې یې کوم ګام اوچت نه کړ، په تیره چې بهرنیانو د دوی معنوي دریځ او مادي ګټې ډاډمنې کولې.

په افغانستان کې د دریو نیواکګرو ځواکونو په ډله کې د ازبکي دولت اداره یو څه ساده او لږ لګښت لرونکې وه، د دوی یو لوی واکمن په بلخ کې میشت و او نور حکام یې د هیواد د شمال په نورو سیمو کې خپاره وو، مالیات یې ټولول او په ماوراالنهر کې یې د خپل مرکزي دولت اطاعت کاو او باج یې ورکاو. نظامي تشکیلات، قضایي او مالي چارې یې ساده او کاغذ بازي او دفتري کارونه یې بیخي ابتدایي وو، د ازبکانو

دولتي تشکیلاتو کې یو تن قوش بیګي (د صدراعظم پرځای)، یو تن دیوان بیګي (د مالیې د وزیر پرځای) لوی قاضي (د عدلي قوا پرځای) چې توقسباو بروانچي بلل کېد او توپچي باشي چې د سپهسالار پرځای و او رئیس اعلم د احتساب او د ښار د نظم چارې پرمخ بیولې. د چارو په هکله اجرأت او حقوقي احکام او نورې چارې زیاتره د حاکمانو په شفاهي وینا ترسره کېدې او د کارونو ترسره کول د پاچا او لویو عمالو دوو شونډو پورې تړلې وو. دغو مامورینو د دولت له خوا کوم معاش نه درلود. بلکې د خلکو په حساب یې ژوند پرمخ بیوه. مالیات هم د سیمو د حکامو په خوښه راټولیدل. په افغانستان کې د هند او ایران د نیواکګرو او د ازبک نیواکګرو ترمنځ یو بل تو پیر داو چې ازبکو افغانستان خوښ کړ او ورو ورو د یوه نیواکګرو ځواک له حالت څخه راووتل او د مهاجرت د ژوند بڼه یې غوره کړه او بیا پسې ورو ورو د تل لپاره په افغانستان کې پاتې شول، نو د سیمې له خلکو سره ګډ شول او په پای کې له ماوراالنهر څخه را جلا شول او د افغانستان د ملت یوه برخه وګرځیدل، خو د ایران او هند دولتونو په افغانستان کې تر خپل واک لاندې سیمې لرلارې څارلې او د عسکرو په زور یې اداره کولې.
د ایران دولت تر دوو غوړونو پورې په پوچ اداري کړ کیچ کې ډوب و او له دې امله چې په خپله یې په خپل لاس مذهبي اختلاف رامنځته کړی و، نو د نیول شویو ولایتونو د ادارې د ښه ډاډ منتوب په خاطر یې په عسکري ځواک ډېره لګولې وه، دغه دولت په هرات او شمال لویدیځو ولایتونو کې شل زره عسکر او شل زره عسکر په کندهار کې ځای پر ځای کړي وو. ددې ټولو لګښتونه د افغانستان د ملت پر غاړه وو له دې پرته د دوی د تجمل پرستي لګښتونه هم باید د افغانستان خلکو ورکولای. د ایران د دولت افسران او حکام د خپلو ناوړو کړو او نا سم چلند له امله د ماوراالنهر د دولت په پرتله ډیر ژر د خلکو د کرکې وړ وګرځیدل او په هرات او کندهار کې د خلکو ورسره دښمني شوه. خو په افغانستان کې د بابري هند ادارې د ایران او ماوراالنهر دواړو په پرتله زیات تفصیل او اوږدې غځونې درلودې: په افغانستان کې ددغه دولت ډیر لوی متصرفات د بدخشان صوبه، د کندهار صوبه، د بلخ صوبه او د کابل صوبه وه. سره له دې چې دغه تشکیل کوم دایمي تشکیل نه و، دا ځکه چې بلخ ډیر ژر د ازبکیه دولت په واک کې ورغی او بدخشان لږ وروسته خپله کورنۍ خپلواکي ترلاسه کړه او کندهار هم یو مهال کې (لکه د هرات او مشهد په شان) ایران ونیو، خو یوازې د کابلستان صوبه تر اتلسمې پیړۍ پورې د هندوستان د بابري دولت تر ولکې لاندې پاتې شوه. له تشکیلاتي پلوه د کابل صوبې سل تومانونه درلودل او هر تومان له یو شمیر کلیو څخه جوړ و. د کابلي صوبه په لاندنیو واحدونو ویشل شوې وه: د پیښور او بګرام تومان، د ننګرهار او لغمان تومان، د مندرواړ تومان (هغه سیمه چې هلته د الیشنګ او الینګار سیندونه سره یو ځای کیږي او دغه لاره له کونړ او چغه سرای سره نښلي. د څرخ او لوګر تومان، د السا (تګاو) تومان، د بنګښ تومان (د مهمندو، خلیل، اپریدو او خټکو سیمه)، د ګردیز تومان، د زابل تومان (غزني او شاوخوا یې)، د غوربند تومان، د ضحاک او بامیان تومان او نور.
د بدخشان د صوبې مالیات په کال کې ۴۰ میلیونه دام او د کندهار د صوبې کلنۍ مالیات شپیته میلیونه دام وو. د کندهار صوبې کې لاندنۍ سیمې وې: دوکي، پشنګ، شال، مستونګ (بلوچستان)، کلات، هزاره، تیرین، ګرمسیر، زمینداور، کشک نخود او نورې سیمې. د بلخ د صوبې کلنۍ مالیات

Scanned by CamScanner

اتیا میلیونه دام کیدل البته د بدخشان او کندهار صوبې د سیمه ییزو امیرانو، د هند او کله هم د ایران د دولتونو ترمنځ لاس په لاس کیدې او واک یې یوه لاس او بل ته لوید. د کابل د صوبې کلني مالیات ۱۲۰ میلیونه څارویی کیدل، په دې کې د کابل د ښار مالیات دولس میلیونه او اته سوه زره څاروي وو، چې بیه یې دوه میلیونه د سپینو زرو شهرخي یو مثقالي سکې کیدې. د کندهار د ښار کلني مالیات ۵۲۷ تومانه نغدې (چې اتلس نغد دینارونه یو تومان کیدل او هر تومان اته سوه دام بیه درلوده)، ۳۵۱۲۵ خرواره غله، یو شمیر آسونه او پسونه او یوه اندازه اوړه، وریجې، غوړي او غلې ـ دانې وې چې د مالیاتو په نوم اخیستل کیدې. د کندهار د تومان مالیات ۴۲ زره پسونه، ۴۵ آسونه او څو زره خرواره غله ټاکل شوی وه او یو شمیر سپاره او پلي سرتیری یې هم دولت ته ورکول. په مجموع کی دغه ذکر شوي مالیات د ظهیرالدین محمد بابر د دولت له مهال څخه د اکبر جلال الدین ترمهال پوری ترلاسه کیدل، خو د هرات، مرو، مشهد، نیشاپور او سیستان مالیات په دی حساب کی نه راتلل (دغه سیمې د صفوي ایران په واک کې وې).

کابل ښار کې د جلال الدین اکبر ترمهال پورې د سروزرو مسکوکات کوندړه کیدل، خو په نورو ښارونو کی یواځی یا سپین زر یا هم مس کوندړه کیدل. د شاه جهان پرمهال د هغه ټول وربوی په ۲۲ صوبو باندې وویشل شو چې له هغو څخه څلور صوبې یې په افغانستان کې وې. له دې ټولو سره سره د دغو ۲۲ صوبو د مالیاتو اندازه د شاه جهان پرمهال اته اربه او اتیا کروړه شول (یعنی اته میلیارده او اته میلیونه دام). د یوه دام د واحد اجزا (جیتل) بلل کید: ۲۵ جیتل یو دام و. د نن ورځې په حساب یو هندي دام پنځه بائی او د بائی پېنځمه برخه کیدل. په دې توګه پنځه دام دوه آنی کیدې.

هره صوبه د یوه والي په لاس کی وه چې هغه ته (صوبه دار) ویل کید. هغه به ملکي او نظامي چارې سمبالولې. له دغه صوبه دار سره به یوځای بیلابیل نور مامورین په کار بوخت وو لکه: کومکی (مرستیال یا ملاتړی افسر)، قلعه دار (په کلاووکې)، تعینات (دایمی افسر)، بوجدار (د یوې سیمی قوماندان)، کوتوال (په کلاووکې)، تانه دار (د پولو ساتونکی)، تیولدار (هغه فیوډال چی اقطاع کروندې په واک کې لری او د هغی سیمی حاکم هم وی)، واقعه نویس (د ضبط احوالات او واقعاتو علنی مامور) او هرکاره (پټ جاسوس).

د دولتی مامورینو او منصبونو مراتب او پوړی، هم په ملکی او هم په نظامی برخه کې د (هزاري) په بنه ترتیب شوی و چې د همدغه رتبو له مخی معاشونه ورکول کیدل. دغه منصبونه او رتبې له (ده باشی) څخه پیل او تر لس زریز یعنی (ده هزاری) پورې رسیږی. د دې دواړو ترمنځ نوري ۲۴ رتبې وی. یو لس زریز مامور ته اوه سوه آسونه، دوه سوه پیلان، دوه سوه بار وړونکي څاروي او درې سوه ارابې مقررې وې. او د میاشتې یې شپیته زره روپۍ معاش اخیست. د کابل د صوبې معاش او لګښت (د شاه جهان پرمهال) په کال کې ۱۲۰ میلیونه دام کیدل یعنی د کابلستان د کلني عاید دریمه برخه[1] په هغه ورځ چې د کابل پخوانی صوبه دار علی مردان خان په هند کی مړ شو له هغه لس میلیونه نغدې پیسې او

---

[1]– تاریخ افغانستان در عهد گورکانی هند، کابل د ۱۳۴۱ کال چاپ.

جنس ورځخه پاتې شو چې نیمایي یې شاه جهان واخیستی. د هند دولت په تمول او لوړو لګښتونو کې، په اسراف، تجمل او راحت طلبی کی په ټولو د منځنی آسیا هیوادو کې نوم درلود.
هغه تخت چې په اولسمه پیړۍ کې د بابری هند د سلاطینو د کیناستو ځای و. د اوو کلونو په ترخ کې د دری ګز و په اوږدوالی. دوه نیم ګزو په سور او د شپږو ګزو په لوړوال جوړ شو په هغه کې د سروزرو زر تولې او د اته میلیونه روپیو په بیه غمي کارول شوی وو. شاه جهان یوه ورځ ډیر خوشحاله و. خپل زوی داراشکوه ته یې لس میلیونه نغدی روپۍ او د یو میلیون او ځلور سوه زرو روپیو په بیه سر پیچ، جیغه، ملاوستني، چړې او جواهر نښانه بازو بند. له سلو آسونو سره ورکړل ددغه زوی د ځمکو کلنی حاصلات یې ۲۱ میلیونه او اوه سوه او پنځوس زره روپۍ کیدل. د کابلستان صوبه دار سربلند خان د (فرخ سیر) پرمهال یوه ورځ د شل میلیونه روپیو په بیه انعام ترلاسه کړ. درباري اشرافو او لوړ پوړیو چارواکو نازکې او وریښمني جامې اغوستې او په غاړو، د لاسونو په مټ او سرونو باندې یې زیور ګانې، او غمی کینبودل، د هغوی په غونډو کی به له باد کشونو ځخه یخه هوا چلیده، د سرو زرو له عطر شیندونکو ځخه د ګلابو عطر شیندل کید، ښځې به ګډیدې او نارینه وو به سندرې ویلې. له یو ځای ځخه بل ځای ته د تګ پر مهال به په روانو تختونو (پالکو) کې کیناستل او یو شمیر سړیو به هغه کشول.

## پينځم

## په ختيزه جبهه کې د افغانستان د خلکو آزادي غوښتونکې مبارزات

د افغانســتان د ويش او تجزيې پرمهـال، د افغانسـتان شـمال او شـمال ختيـز ولايتونه (بلخ، تخار او بدخشان) د ازبکی تیموری او سیمه ییزو حکامو تر اداري لاندې، ورو ورو خپلواک او بیا سیمه ییزه بېغوره کړه د هندوستان او ماورالنهر د دولتونو له سیده واکمني څخه ووتل، دغی لارې یوه ملی ځیرداو بېلرله او کولای یې شول چې ددغو سیمو کورنی امنیت ډاډمن کړي، خو د هیواد په لویدیزو او جنوب ولایتونو کې د ایران د صفوی دولت واک د نظامي حکومتونو او پیاوړي اردو په واسطه ساتل کید، دا ځکه چې د پاخونونو د نورو لاملونو تر څنګ د صفویانو مذهبي تعصب هم د خلکو کرکه زیاته کړی وه صفوي دولت د هرات، اندخوی کندهار او مستونګ (بلوچستان) پاځونونه په ډیر کلک ډول وځپل چې ډله ییزی وژنی، لوټ اتلان ورسره و، له هغه وروسته تر اتلسمې پیړۍ پورې یې وکولای شول چې په همدی قهرجن سیاست سره د خلکو د پاڅونونو مخه ونیسي، په تیره بیا دا چې غلجایی او ابدالي ځواکمنو قومونو د کلات د ځمکو پرسر یو بل سره شخړې درلودې او د اوږدې مودې دغو شخړ میراثي بڼه نیولې وه او دا د ملی ځواکونو د لا ضعیف کیدو لپاره یو لامل او د بهرنیو واکونږ ټینګښت لپاره یوه لاره وه.

خو د خلکو اراده د زیانونو د مخنیوي او د ګټی د ترلاسه کولو لپاره لکه د (مادی او قوت) په شان ځانګړتیا درلوده چې هیڅکله له منځه نه تله، بلکې که یوځای کی به نا ځرګنده یا له منځه یووړل شوه، بل ځای به را څرګنده او را پیدا کیده، د افغانستان په ټولنه کی دغسې یو حالت روان و، په ختیزو ولایتونو کې د خلکو مبارزاتو په نورو ولایتونو کې د مبارزاتو تشیال ډک کړ. دغه نوی ملی حرکت چې د هیواد په ختیځ کې له شپاړسمې پیړۍ څخه را پیل شو، تر اولسمې پیړۍ پورې یې دوام وکړ، سره له دې چې دغه خوځښت له پردیو څخه د هیواد په خپلواکه کولو کی ناکام شو، خو وېې کولای شول چې د هیواد په جنوب کې په اتلسمه پیړۍ کې د یوه بل حرکت لامل وګرځي او ملت خپلی اصلی موخې ته ورسوي. دغه لوی غورځنګ د افغانستان د پښتنو د نویو عناصرو په لارښوونه پیل شول.[۱] دوی له هغه راهیسې چې تاریخ ته وریادوي د افغانستان په ختیځ کې او د سلیمان په غرونو کی ژوند درلود او ورو ورو ځلور خواووته خپاره شول او په پای کی یې د پښتونخوا اوسنی سیمه جوړه کړه. د سلګونو قبیلو سره سره د پښتنو عمومی نوم پښتون یا پښتانه یا پختون یا پختانه دي. دا چې پښتانه په مجموع کې ځان ځانونه پښتو، پختونو یا پختانه بولي، د

[۱]- پښتو پخوا هم کې شمیر عناصر لرل چې د ملت جوړونی مفکوره ورسره وه لکه غوری سلطان او سوری شیرشاه په هند کی. .ژ.

افغان د نوم په پرتله د لرغونتوب دليل دی. همدا و پښتو او پختانه نوم دی چې د څوارلسمې پيړۍ په هندوستان کې په پټهان اوونښتی و. دا ځکه چې افغانانو لوړی خل زياتره د «پټنه» په ښار کې ژوند غوره کړ او هلته ميشت شول. نو ځکه هغوی هندیانو پټهان وبلل. وروسته بيا دغه تحريف استعماري دانشمندانو ته يوه بهانه په لاس ورکړه ترڅو د خپلو سیاسي غرضونو او ګټو په خاطر او د خلکو ترمنځ بې اتفاقي د پيدا کولو لپاره پټهان او افغان سره بيل وپيژني او دواړه جلا جلا عناصر معرفي کړي. خو د افغان نوم چې له لسمې پيړۍ څخه رادې خوا په يوشمير ځايونو کې ليدل شوی او په تيره د حدود العالم من المشرق الى المغرب په اثر کې چې مؤلف يې معلوم نه دی همدارنګه د يوشمير نورو مؤلفتيو په آثارو لکه ابوريحان، فردوسی، بيهقی، منهاج السراج او نورو کی دغه نوم د افغانستان د پښتنو د هغه د يوې برخې لپاره ذکر شوی دی او عتبی په بيهقی تاريخ کې هغه د «اوغان» د نامه معرب «عربي شوی بڼه .ژ.» ګڼي. او دا يو ډير پخوانی بولي چې د هند د ريګويدا له «اپاګان» سره برابر دی د اوغان نوم وروسته تر تعريب څخه هم بيخی له منځه نه دی تللی او د څوارلسمې پيړۍ د يوشمير ليکوالو له خوا په ظفر نامه او ملفوظات تيموري کی او په مطلع السعدين کی او په نورو ځايونو کی ذکر شوی دی.

خو د «افغان» نوم چې تر څوارلسمې پيړۍ پورې د يوشمير ليکوالو له خوا لکه، الفی، فرشته او ابن بطوطه په آثارو کې د پښتنو د قومونو لپاره ذکر شوی و، وروسته وروسته بيا نور هم پراخ شو او ادبي بڼه يې غوره کړه او له تصور سره سم يې هغه پښتنو هم دغه نوم ځان ته غوره کړ چې پخوايې د نورو له خوا پرځان يو تحميلی نوم باله او بيا په خپله پښتنو هم خپلو آثارو کې دغه نوم کارولی دی. په دې کی يو هم خانجهان لودی (۱۲۳۰م) و.

د افغانستان نوم تر اتلسمې پيړۍ پورې دومره مشهور شوی و او پرختيا يې موندلې وه چې ابدالي احمدشاه په حجاز کې د خپلی حاجی خانی د ودانۍ په ډبر ليک باندی ليکلی و چې: «درانی او غير درانی هر افغان چې وي...» دلته د غير درانی له کلمې څخه مطلب دا دی چې د پښتنو نورو قبايلو ته يې اشاره کړې وه، يعنې تر اتلسمې پيړۍ پورې «افغان» د ټول هېواد د پښتنو عمومي نوم ګرځيدلی و[۱] او تر نولسمې پيړۍ پورې يې پراخوالی دومره حد ته ورسيد چې د ټول افغانستان د خلکو نوم شو چې په هغه کی دري ژبي، ترکي ژبي او نور هم راتلل. د افغان نوم د اته سوه کالو په ترڅ کی ډير پراخوالی وموند، همدارنګه د پښتنو اصلي ټاټوبی چې سليمان غر او د هغه شاوخوا و، له ديارلسمې پيړۍ څخه تر نولسمې پيړۍ پورې د شپږ سوه کالو په ترڅ کې له يو کوچني افغانستان څخه چې د سليمان غره شاوخوا سيمې وې، يوه پراخ افغانستان ته چې ټول ختيز ولايتونه وو، پراخ شو.

هغه لومړني لکيوال چې په ديارلسمه پيړۍ کی يې د افغانستان نوم ذکرکړی دی، سيفی هروی د «تاريخ هرات» مؤلف و، هغه ليکی: او لجايتون خان، د هرات سيمه د افغانستان تر بريده او اموی حد سلطان غياث الدين کرت ته محفوظ کړ. په څوارلسمه پيړۍ کې د مطلع السعدين ليکوال ليکي چې: سيستان

---

[۱] – لوی احمدشاه بابا د خپلی لويې امپراتورۍ بيلابيلو ولايتونو کی د افغانستان د هر قوم (تاجک، ازبک، ترکمن...) پوه او عالم خلک د واليانو، ديني و اعظانو او مبلغينو په توګه ګومارلی و. دلته د ابدالي احمدشاه موخه له هر افغان څخه هدف د افغانستان هر قوم و .ژ.

Scanned by CamScanner

او کندهار او افغانستان د صاحبقران (امیر تیمور ګورګان) په پاملرنه کې هغه مهال له فراه، بست، کندهار، تخت سلیمان او نورو ځخه نوم اخلي.
له دغې لیکنې ځخه ښکاري چې د مؤلف تر زمان پورې کندهار د افغانستان برخه نه وه او همان تخت سلیمان او د هغه خوا وشا افغانستان بلل کیدل. په شپاړسمه پیړۍ کې امین احمد رازي په خپل (جغرافیای هفت اقلیم) کې د کابل حدود داسې تعریفوي: د کابل ختیځ ته پیښور، لغمانات او د هند ځینې ولایتونه دي، لویدیځ یې غزنی سیمه ده چې هلته تکو دری قوم او هزاره اوسیږي، شمال یې کندز او اندراب دی او هندوکش غر دا سره بیلوي، جنوب ته یې فرمول او افغانستان یواځې دي.
د نولسمې پیړۍ یو بل جغرافیه لیکونکی مرتضی حسین بلګرامي په حدیقته الاقالیم کې د سیستان حدود دا ډول تعریفوي: سیستان هغه ولایت دی چې پولې یې له خراسان ځخه تر کرمان، غزنین او د افغانستان شاوخوا پورې دي. په همدې نولسمه پیړۍ کې و چې د افغانستان د فراري او غیر قانوني پاچا شاه شجاع الملک په نوم، په ۱۸۳۸ کال کې د اګست په شپاړسمه نیټه د هندوستان وایسرای لارډ اکلنډ په ځواب لیک کې (د مخلوع شاه شجاع، د پنجاب د پاچا رنجیت سنګه او د هند انګلیسي دولت تر منځ د لاهور د درې اړخیز تړون ځخه وروسته) د لومړي ځل لپاره د افغانستان نوم د خراسان په بدل راغلی. په دی توګه "اخلاص ګزین را به خوشی و رغبت ماالاکلام این معنی مسطور است که در میان صاحبان (یعنی انګلیسي ها) و مردم ولایت، «افغانستان» چه از سپاه و چه از رعیت، بدون مرضی و صلاح انخلاصئه خاندان عزو علي، امری بوقوع نیاید"
پورتنی جملې د شاه شجاع د وړاندیز د دریمې مادې په ځواب کې لیکل شوی دي په داسې حال کې چې «واقعات» نومي کتاب په پیل کې د افغانستان پرځای هماغه پخوانی او عمومی نوم «خراسان» ذکر کړی و.
وروسته بیا انګریزان چې د شاه شجاع نقاب لاندې په کندهار واکمن شول، د ۱۸۳۹ د می د میاشتې په اومه یو بل تړون په شاه شجاع و تاپه چې د هغه په دوو مواردو کې د افغانستان نوم د خراسان پرځای راغلی و. دریمه ماده داسې وایي: "... شاه معتشم.... (شاه شجاع) به هیڅکله د فرنګیانو د قوم کوم یو د نوکرانو په ډله کې منتظم او منسلک نه کړي او په افغانستان کې به هیڅ کوم یو فرنګی ته د اوسیدو اجازه ورنه کړي او په افغانستان کې به پرته د انګریزانو له د سرکار خوښې د کار اجازه ورنه کړي". (همداسې هم په ځلورمه ماده کې) له دې نیټې ځخه وروسته د افغانستان نوم د هیواد رسمي نوم شو.
په هرحال، د افغانستان پښتانه چې تر لسمې پیړۍ پورې د سلیمان د غرونو په شاوخواکې اوسیدل د افغنستان د فیوډالیزم په دوره کې د نا انډوله پرمختګ په ترڅ کې یې تولنیز پرمختګ وکړ. دوی سلګونه لوی او کوچني قومونه لرل. دوی ډېر ورو او وروسته د فیوډالیزم مرحلې ته قدم کیښود او د افغانستان د نورو ښارونو او نورو وادیګانو په پرتله په هغوی کې د فیوډالیزم تینګښت وروسته رامنځته شو. په داسې حال کې چې د افغانستان د فیوډالي مناسباتو وده ورو ورو د میلادي لومړنیو پیړیو له پیل ځخه وه او په اوه لسمه او اتلسمه پیړۍ کې خپل لوړ حد ته ورسیدله. خو د سلیمان تخت په غرینو سیمو کې تر ډیره وخت

Scanned by CamScanner

پورې قبیلوي مناسبات کلک وو. په عمومي توګه د افغانستان د پښتنو قبایلو ټولنیز نظام لاندني دوه خانګړنیا وې درلودې: یو د قبیلوي ژوند طریقه او بله د فیوډالي مناسباتو د انکشاف اړخ. خو فیوډالي مناسبات هم په بیلابیلو درجو سره او په نا انډوله توګه په یو ځای کې ضعیف او د قبیلوي قانون تر سیوري لاندې او په بل ځای کې ځواکمن و. په دغو سیمو کې ورو ورو قومي جرګې د خانانو په واک کې لویدې، حال دا چې په یو شمیر نورو قبایلو کې جرګې لکه د پخوا په شان د قبیلې ژوند اداره کاو. جرګې اصلاً یو شمیر طایفوي سازمانونه وو چې په لومړنیو ټولنو کې به د قبیلې د مسایلو د حل لپاره (پرته د مرکزیت او دولت له موجودیت څخه) جوړیدې او اوس هم رواج دي.

البته د فیوډالیزم له ودې سره سم جرګې هم له هغه لومړني شکل څخه چې یو ځای د مشرانو مشورتي بڼه یې درلوده په یوه اشرفي شورا بدلې شوې آن دا چې له نولسمې پیړۍ څخه وروسته هم د افغانستان دولتونو هم د جرګو دود د مهمو مسایلو په حل کې پرمخ بوت[۱]. خو دغه جرګې د هغه مهال د حکومتونو له خوا د فیوډال، ملاک او روحانیونو د استازیتوب او انتصاب په بڼه وې، نه د بزګرانو او پیشه ورانو او نباري متوسطو طبقو په استازیتوب.

پښتانه وروسته تر لسمې پیړۍ څخه د افغانستان له نورو خلکو سره یو ځای له بهرنیو سره جنګیدلي. په یوولسمه او دولسمه پیړۍ کې د پښتنو مهاجرتونه د سلیمان غره په شاوخوا کې لیدل کیږي. دغه مهاجرت په نویو سیمو کې له میشت کیدو سره یو ځای او ددوی په اقتصاد کې کرنې مهمه ونډه درلوده. ددوی کرنه زیاتره د نا پښتنو په واسطه ترسره کیده. ډیر مهاجرتونه غلجیو، ابدالیو، یوسفزیو، وزیرو، اپریدو، خټکو، مومندو، شینوارو، ورکزو، کاکړو او لسګونو نورو قومونو وکړل او په څوارلسمه پیړۍ کې یې مهاجرت د هیواد د ننه او بهر پراخه شو. په لسمه پیړۍ کې لودیان هند ته ولاړل او د یوسفزیو لوی قوم چې په څوارلسمه پیړۍ کې کابل ته راغلی وو له خیبر څخه تیر او پیښور ته ورسیدل او دوی نوی ځمکې ونیولې دو د پخوانیو سیمو خلک وایستل او یو څه بې خپل تابعیت لاندې په کرنیزو چارو کې راوستل.

په شپاړسمه پیړۍ کې ګڼ شمیر قبایلو په شاوخوا کې په میشت کیدو پیل وکړ یوسفزیو د پیښور شمال غربي سیمې، مروتو د بنو په سیمو کې او بیا وروسته نورو قومونو د سند غاړو کې ژوند غوره کړ او له اوولسمې پیړۍ څخه تر اتلسمې پیړۍ پورې د غلجیانو او ابدالیو لوی قومونو د زابلستان او کندهار په سیمه کې ځواک ترلاسه کړ.[۲]

---

[۱]– د جرګو دود له لرغوني آریانا څخه موجود و، کله چې آریائیان له بخدي څخه نورو وادیګانو ته و پښیدل دغه دود یې هرځای ته خان سره یووړ. لکه ضحاک، شیواک او نورو قبیلو چې خپل مسایل یې د زرګونه کلونه په ترڅ کې د جرګو لارې حل کول. په دې توګه د افغانستان د ویش په پړاو کې په افغانستان کې دننه مرکزیت او با ثباته دولت نه و، نو ځکه ولسونو خپلې عنعني (جرګې) ته مراجعه وکړله. د ملت په کچه د ډیرو مهمو مسائیلو په حل کې د ملي جرګو غوره تجربې د هغو مؤثریت ثابت کړی و، نو ځکه د جرګو ارزښت نه یواځې تر نولسمې پیړۍ، بلکې تر شلمې پیړۍ هم دوام وموند. ـ ژ

[۲]– د خدای بښلي غبار دغه نامتو تاریخ (افغانستان در مسیر تاریخ) په یو ټوک کې په ۱۳۴۶ کال کې چاپ شو، خو وروسته د افغانستان د قومونو په هکله نور نوي تحقیقات وشول. د بیلګې په توګه د پوهاند عبدالحی حبیبي (اصل خلجیان افغانی) اثر په ۱۳۴۸ کې چاپ شوی په هغه کې خلجیان د غزني او غور د سیمو اوسیدونکي ښودل شوي او د ابدالي تاریخ لامخکې کلونو پورې ښکاره کوي. (ژ)

Scanned by CamScanner

د افغانستان د پښتنو مهاجرت یوازې د هیواد د ننه نه، بلکې له سند څخه ور پورې غاړه تر هند، ملتان او پنجاب او منځني هند پورې هم ورسید او لودیانه او روهلکند د پښتنو ددایمي اوسیدو ځایونه شول په دې کې یو هم بریڅان وو چې د (کترا) په ولایت کې د هند په سیاسي تاریخ کې برخمن شول او دوی چې په هند کې د (روهیله) یعنې د غرونو خلک په نوم یاد شول. نو ولایت ته یې هم د (روهل کند) نوم ورکړل شو او په اتلسمه پیړۍ کې د خپلو ولایتو د خلکو او آبادي له امله ډیر مشهور شول. د کترا د سیمې پرمختګ (مراد آباد، بدوان، بریلي او نور) د روهیله پښتنو پرمهال (په اتلسمه پیړۍ کې) له اقتصادي پلوه تر دغه بریده ورسید چې کلني مالیات یې تر درې میلیونه او نهه سوه زره هندي روپیو پورې رسیدل چې هغه مهال دغه اندازه په یوه کوچنۍ سیمه کې، د هغې د پرمختیا او آبادي نښه بلل کیدای شي. همدارنګه بنګښو د فرخ آباد سیمه آباده کړه او لکه د روهیله په شان د خپلې سیمې د آبادۍ په برخه کې ډیر مشهور شول، د مراد آباد، رام پور، فرخ آباد، محمد آباد، شمس آباد، بهوج پور، قایم ګنج او څو نورو ګنجونو آبادول د روهیله او بنګښو په لاسونو وشول. د انګریزانو تر راتګ پورې هلته ددوی د آبادي او عمران نښې او په دې لړ کې د (حافظ رحمت خان) یو ډیر ښکلې کتابتون موجود و، د روهلکند هیواد چې د اوده په شمال لویدیځ کې یو کوچنۍ هیواد و د افغانانو د کار او زیار له امله دومره آباد شو چې هغه ته یې د (هند جنت) نوم ورکړ. پښتنو د هند په دولت، اداره او پوځ کې هم ډیر ممتاز مقام درلود او په هند کې د انګریزانو خوریدو او ددوی د حکومت تر واکمن کیدو پورې ددوی دغه اهمیت په خپل ځای و.

له همدې مودې څخه تر اتلسمې پیړۍ پورې د افغانستان یوشمیر پښتنو له کوچیانی ژوند څخه لاس واخیست او د مالداري له خالص ژوند څخه یې زراعتي او ښاري ژوند غوره کړ او د فیوډالیزم په تکامل کښې پرمخ ولاړل. د ټولنیز ژوند دغه نوي جریان د یوه فیوډالي نوي دولت د رامنځته کیدو لامل شو، په تیره بیا چې د بهرنیو د واکمنی فشار د نیواکګرو په وړاندې ددوی د ملي مبارزې روح ډیر غښتلی کړی و او د فیوډالي کورنیو تضادونو او عشیروي تعصباتو سره سره د بهرنیو نیواکګرو په وړاندې ددوی اتفاق او اتحاد نور هم کلک شو. (١)

البته په ټولو قبایلو کې دغه ټولنیز پرمختګ همغږی او متوازي نه و، د بیلګې په توګه پنځلسمه پیړۍ کې لودی قوم دا توانایي درلوده چې له افغانستان څخه بهر په هند کې یو دولت جوړ کړي چې تر شپاړسمې پیړۍ (١٤٥٠-١٥٢٢) پورې یې په منظم ډول دوام وکړ. وروسته په همدې پیړۍ کې (١٥٤٠-١٥٥٢) سوري دولت د نامتو شیرشاه تر مشرۍ لاندې په هندوستان کې جوړ شو. همدارنګه د افغانستان د ننه (د هیواد ختیځ کې) په اوولسمه پیړۍ کې د ختکو په لاس یو کوچنی فیوډالي دولت جوړ شوی و، وروسته بیا غلجیو او ابدالیانو په جنوب او لودیځ کې همدا کار لږ په پراخه کچه ترسره کړ. تر دې مهال پورې فیوډالي مناسبات د پښتنو په یوشمیر قبیلو کې خپله لاره (که په ډیر ځنډ هم وه) پرانیستې وه او په یوشمیر قبایلو کې (عشیروی

---

١- په یوه لوی څیړنه کې د پښتنو دغه اتحاد د باختری قومونو هغه دوران پورې روښي چې له میلاد څخه ٦٠٠٠ کاله مخکې څخه تر ٥٢٠ ق.م پورې اوږدوالی لری. په دی کې ضحاک یا سهاک، سیستانیان او زاولی ((زابلی)) هم ښودل شوي (و.ګ. آریانا دایرة المعارف دروهم دور دروهم ټوک ١٣٨٧ کال ٤١٢ مخ)

Scanned by CamScanner

جرګې، د خانانو د اقتدار او تمویل وسیله شوې وې. له بلې خوا پښتو ژبه تر شپاړسمې پیړۍ پورې دومره یوه پرمختللې ژبه وه چې په خپله لمن کې یې د خوشحالخان په څیر شاعران او د بایزید روښان په شان لیکوالان روزلي وو.

په داسې حال کې چې په سلګونو نورو قبایلو کې یو قبیلوي تولنیز نظام موجود و. د بیلګې په توګه وزیر او یوسفزي او یو شمیر نور تردې وروستیو پورې په همدې ډول نظام او د خپلواکو جرګو تر نظام لاندې ژوند کاو او د قبایلو خپلواکې د همدغه جرګو په واسطه ساتل کیده او قبیلوي نظام تولنیز ژوند حاکم و. ډیر وروسته د قبیلې پرخای سیمې ته انتساب ځای ونیو.

## د روښانیانو په لاربښوونه د خلکو غورځنګ

ټولنیز نا انډوله تګلوري ددې لامل شو چې د هیواد د پښتنو ترمنځ شدید طبقاتي توپیر رامنځته شي، په تیره بیا چې پرمختللي او فیوډالي شوې قبیلو دا غوښتل چې په قبیله پورې ترلي عمومي ځمکې راخپلې کړي او فیوډالي نظام تطبیق کړي. په دې توګه د فیوډالي برلاسو قبایلو په وړاندې د خلکو نوی غورځنګ پیل شو. دغه غورځنګ په شپاړسمه پیړۍ کې رامنځته او روښانیان یې په سرکې وو. چې د مذهب تر سیوري لاندې یې د هغه لارښوونه وکړه. دغه کورني طبقاتي مبارزات په کابل او پیښور کې د هندوستان د بهرني دولت د واکمنې پرضد له ملي خپلواکې غوښتونکو مبارزو سره یوځای شول او له شپاړسمې پیړۍ څخه یې تر اولسمې پیړۍ پورې دوام وکړ. خو په پای کې د هندوستان بابري دولت د پیسو او سیاست په زور له روحانیونو او کورنیو خانانو سره په یوه کیدو دغه غورځنګ وځاپه، چې تر ټولو زیات ملا درویزه ننګرهاري (د تذکرة الابرار والاشرار مؤلف) د خپلو هیوادوالو په دغو ځپلو کې ډیره ونډه واخیسته او د مذهب ترجامې لاندې یې د ژبې او قلم په واسطه تبلیغات وکړل او ترهغو یې د ستوماني احساس ونه کړ، ترڅو چې دغه غورځنګ له پښو ولوید او هغه بایزید د تکفیر، توهین او سپکاوي تر تورونو لاندې ونیو.

د روښانیانو غورځنګ یواځې نه و، بلکې خلک هم ورسره مل وو او د نورو خلکو آزادي غوښتونکو مبارزاتو هغه بدرګه کاو. د هند بابري دولت ناوړه کلک چلند هم د خلکو غبرګون او مبارزات ګړندي کول. د شپاړسمې پیړۍ له هماغه پیل څخه له کله نه چې بابر په کابلستان کې ټینګ شو، په ۱۵۰۷ کې یې له یو ځواکمن لښکر سره د زابلستان پر خلجیانو برغل وکړ او د هغوی د نفوسو له وژولو وروسته یې د هغوی ټول څاروي او رمې چې څه نا څه په لسګونو زره میږې او پسونه کیدل لوټ کړل. په بل کال (۱۵۰۸ کې) یې د خیبر مومند چې د خیبر له لارې یې د سوداګریز و کاروانونو د حق العبور له درکه د بابر واکمنې د خپلو ګټو مخالفه بلله، له بابر سره ونښتل او ګڼ شمیر جګړې یې ورسره وکړې. په ۱۵۱۸ کې یوسفزیو هم کټ مټ د مومند په شان چلند له بابر سره وکړ خو دري زره تنه یې ووژل او ډیر یې بندیان شول. ددې لپاره چې بابر پر هند باندې د یرغل پر مهال له شاه څخه ډاډه اوسي، د یوه تن یوسفزي لور سره یې واده وکړ چې منصور خان نومید او د لږ وخت لپاره ډاډه شو. کله چې په هندوستان کې بابری دولت ټینګ شو، د شپاړسمې پیړۍ په نیمایي کې، بایزید انصاري چې په پیر روښن مشهور و، د شیخ

Scanned by CamScanner

عبدالله انصاري زوی او د شیخ سراج الدین انصاري لمسی و، د پنجاب د جلندر په ښار کې زیږیدلی و. د بابري دولت په ضد پاڅید. دغه سړی د کانیګورم او سیدونکی و. یو صوفي او متقي شخص و چې د ځانګړي مذهبي طریقې لرونکی او د بیلابیلو تصنیفونو لیکوال و (لکه حالنامه، خیرالبیان او نور) دغه مذهبي کتابونه یې په عربي، دري او پښتو ژبو باندې لیکلي وو. هغه کندهار ته د یوه سفر په ترځ کې ولیدل چې د هند ددولت د والي بیرام خان سپاهیانو یوه ښځه له کمځیو ځخه په ژرنده پورې تړلې وه او همداسې یې څرخوله، ددغې پیښې په لیدلو سره ډیر زیات اغیزمن شو، ترځو چې ژوندی و، دغه ترخه پیښه یې هیره نه شو. بایزید د افغانستان په ختیځ کې پاڅید او لومړني تشکیلات یې جوړ کړل، ځانته یې یوشمیر پیروان او کوچنۍ ډلې جوړلې او د خپلو بیوزلو لپاره یې مرستې او د خپلې ډلې لپاره یې د زیرمې او د وسلو خزانه جوړه کړه. هغه د تصوف او مذهب په جامه کې د زښته ډیرو خلکو د هر کلي وړ وګرځید. یوسفزیو د بایزید خزانې ته په هر کال کې د عشر او خراج ورکول ومنل. درویزه د بایزید له خولې څخه په خپل کتاب (مخزن الاسلام) کې لیکي: لښکر جوړوم چې هند ونیسم، هرڅوک چې کوم آس لري رادې شي، د اکبر پاچا شتمني زمونږ ده.

بایزید ددغه ډول احساساتو په لرلو سره د هند د بابري دولت پرضد د جهاد اعلان وکړ او واک یې تر پیښور پورې ورسید. د کابل د بابري حاکم وکولای شول چې بایزید ونیسي او بندي یې کړي، خو بایزید یو څه موده وروسته ځان خلاص کړ او له کابل څخه بیرته ختیځ ته ولاړ، د تیراه په سیمه کې میشت شو او څو زره پلي او سپاره یې چمتو کړل او بر جلال آباد یې یرغل وکړ. بایزید چې لامخکې خلک د هند د بابریانو پرضد را پاڅولي وو، په دې باندې ښه پوهید، چې یوائې پر جلال آباد یرغل کول نشي کولای چې د هندوستان د ځواکمنې امپراتورۍ د ړنګیدو لامل شي، خو دا یې غوښتل چې عملاً خلکو ته د خپلواکۍ د ګټلو د مبارزې لاره وښیي او خپل ځان د آزادۍ په لاره کې قربان کړي همداسې وشول محسن خان د کابل والي پاڅید او د شینوارو په جګړه کې یې په ١٧٥٩ کې بایزید وواژه او بایزید د پیښور په (اشنغر) کې خاوروته وسپارل شو.

خلکو کلک ټکان وخوړ او شل زرو پلیو او د پنځه زرو سپرو په ګډون یو لښکر له دښمن سره د جګړې په خاطر د بایزید د ځوی او ځای ناستي جلال الدین پر شاوخوا راټول شو. د جلال الدین پلویانو د پیښور بابري حاکم حامد خان بخاري وواژه او په خپله جلال الدین په ١٥٨٥ کې د خیبر په غرونو کې د اکبر جلال الدین رالیږل شویو پوځونو سره جګړې وکړې. مومند، غوریه خیل او یوسفزي په دغو جګړو کې چې دوه کاله اوږدې شوې د مبارزینو په کتارونو کې ودریدل. په پای کې د هند لښکر د کنورمان سنګهـ او خواجه شمس الدین خافي او زین خان کوکه په مشرۍ جلال الدین ته ماتې ورکړه او هغه د باجوړ سوات ته ولاړ. دښمن له ورکزیو او اپریدو څخه یرغمل ځان سره بوتلل، خو جلال الدین په لاس ورنغی او یوسفزیو خپل مقاومت ته دوام ورکړ. په دې مهال په افغانستان کې د خلکو د مقاومت صفوف تیت او پرک شول، بې مرکزه و او د افغانستان یوې خوا ته متمرکز شوي وو، نو ځکه د هند پر دولت لاسبرۍ نه وو، خو بیا هم دغو مبارزینو وکولای شول چې د ملت په وګړو کې د پردیو په وړاندې د ملي مبارزې روح پیاوړی کړي او

Scanned by CamScanner

له کابلستان سره د هند ددولت اړیکې پرې کړې. وروسته تر څلور کلونو څخه بیا جلال الدین راپیدا شو او دداړې یا ګوریلایي یعنې چریکي جګړو (د خرپ ترپ یرغلونو) په بڼه یې د هند دولت پرضد پاڅون له سره پیل کړ. په ۱۵۹۱ کې د هند د لښکر د جعفر بیګ او آصف خان او قاسم خان په مشرتوب وکولای شول چې په دغسې یوه جګړه کې د جلال الدین کورنۍ او ورونه هر یو واحد علي او کمال الدین بندیان کړي همدارنګه د هند دولت وکولای شول چې د پیسو په واسطه سیمه ییز فیوډالان د ملي مبارزینو او جلال الدین پرضد وکاروي. ددغې ارتجاعي ډلې په سر کې ملک حمزه اکوزائي او ملادرویزه ننګرهاري وو چې په توره او قلم دواړو سره یې د ملي مبارزینو په وړاندې کار کاوه. حمزه او د هند دولت په وروستۍ جګړه کې جلال الدین ته ماتې ورکړه او غښن شویو مومندو او دلازاکهانو د هغه ورونه شیخ عمر او خیرالدین او نورالدین ووژل. د خپلواکي غوښتونکو او د هند ددولت ترمنځ ترټولوستره جګړه په ۱۵۹۲ کال د باجوړ شاوخوا وشوه چې د امپراتورۍ څلوېښت زره سرتیري له راجا بیربل سره یوځای پکې له منځه ولاړل او له کابل سره د هند لاره وتړل شوه. څو کاله نور د هند دولت په نظامي قوت سره هڅې وکړې چې د خیبر لاره پرانیستې پریږدي. مبارزین او جلال الدین په ۱۵۹۸ کې مخ په غزنۍ ورغلل او په هغه جګړه کې چې د غزني له هندي ځواکونو سره وشوه په هغې کې جلال الدین ټپي شو او وروسته بیا ووژل شو. ددغه سرپې پرې کړ او د هند دربار ته یې ولیږ.

د جلال الدین وراره احداد د خپله تره پرځای کیناست او د مبارزینو لارښوونه یې په خپل لاس کې ونیوله. هغه وکولای شول چې په ۱۶۱۰ کې په کابل یرغل وکړي او د هند له لښکرو سره ونښت. وروسته یې د لوګر په څرخ کې په غرنیو سیمو کې سنګر ټینګ کړ او په ۱۶۱۴ کې د هند د بابرو له ځواکونو سره مخامخ شو درې زره تنه یې ووژل شول او بیا کندهار ته ولاړ. وروسته له څه مودې له هغه ځایه راستون شو او په ۱۶۱۸ کې بیا له دښمن سره په جګړه بوخت شو، خو بیا هم ډیر تلفات ور واوښتل، نو څکه ختیزو غرونو ته ولاړ. په ۱۶۲۵ کې په تیرا غرنۍ سیمه کې د هند ددولت له قواوو سره مخامخ شوه په خپله احداد ووژل شو، د هغه سر یې هم پرې کړ او د هند دربار ته یې ولیږ. د هغه مرکز د (واغر) کلا ددښمن لاس ته ورغله او پاتې کورنۍ یې غرونو ته سرګردانه شوه، یواځې یوې لوربې ونشو کولای چې وتښتي، کله چې ددښمن لښکر و د هغې د نیولو هڅه وکړه خپل ټیکری سترګوته ونیو او ځان د کلا له پاسه کو وغوځاو، مړه شوه خو دښمن ته تسلیم نه شوه.

د احداد زوی عبدالقادر د پلار له مړینې څخه وروسته د مبارزینو لارښوونه کوله هغه په ۱۶۲۷ کې د شاه جهان رالیږل شوی لښکر له ماتې سره مخامخ کړ. عبدالقادر په ۱۶۲۸ کې په پیښور کې له یوشمیر نورو مجاهدینو سره یوځای شو چې مشرتوب یې د کمال الدین په غاړه و. خو دواړو ددښمن له لاسه ماتې وخوړه او پیښور د شاه جهان د نظامیانو لاسته ورغی. عبدالقادر په ۱۶۳۴ کې د شاه جهان د حاکم سعید خان په واسطه له مقاومت څخه لاس واخیست او د هند دربار ته ولاړ او دوه کاله وروسته همالته مړ شو.

د عبدالقادر ځای ناستي کریمداد ډیره هڅه وکړه چې د اورکزیو او اپریدیو له ملکانو سره چې د هند د دولت په چوپړ کې وو، حساب پاک کړي، خو د هند لښکر وار وړومبی کړ، د کریمداد مرکز یې ونیو او

خپله بې هم په پیښور کې د شاه جهان په امر اعدام کړ. له دې څخه وروسته د روښانیانو د مجاهدینو کورنۍ کوم تکړه لارښود او رهبر پاتې نه شو. دا ځکه چې د دغې کورنۍ غړي څوځو ځله او په پرله پسې توګه، د هند د بابري دولت لاس ته ورغلل او دوی تل د بابري سلطنت تر څارنې لاندې ول او ماشومان یې هم د هند تر نظر لاندې راوستل شول، ترڅو چې یو یو تحلیل شول. په دې توګه د روښانیانو شپېته کلن مبارزات، د یرشو نورو کلونو لپاره وځپل شول، خو په ۱۲۲۲ کې دوه نور مبارزین (اخند چالاک ختک) او (باکوخان یوسفزی) یو ځل بیا د مبارزینو په سرکې ودریدل او د جهاد توغ یې اوچت کړ او د اورنګزیب له لښکر سره یې ډیر کلک رزم ته ملا وتړله او سختې جګړې یې وکړې، خو دغه فداکارۍ هم په شدت سره وځپل شوې همدارنګه د هند د بابری دولت پرضد د اپریدیو له سیمې څخه د ایمل خان په لارښوونه وګرنیز پاڅون له هغو تولو فداکاریو سره چې ویې کړې او آن دا چې په ۱۲۲۸ کې د کابل د بابری والی (محمد امین) په وړاندې بریالي هم شول، خو بیاهم په پای کې وتکول شول

## د خوشحال خان ختک په لاښوونه د خلکو غورځنګ

د مبارزینو وروستی ځواک د نامتو شاعر او جنګی سردار خوشحال ترلار ښوونې لاندې راټول او له ۱۲۲۸ څخه تر ۱۲۷۰ کال پورې یې د اورنګزیب له لښکر سره څو څو ځله جګړه وکړه. دغه مبارز ځواک، تاتری په جګړه کې د دښمن څلویښت زریز پوځ ته ماتې ورکړه او د دوابې په جګړه کې یې د دښمن نامتو قوماندان وواژه. همدارنګه د نوښار، کنداب او خانج په جګړو کې یې هم دښمن ښه وټکاو، خو بیا هم له ماتې سره مخامخ شول او د خوشحال خان زامن (عبدالقادر او اشرف) او لمسیان یې (کاظم شیدا او علیخان) هندوستان ته تبعید شول او همالته مړه شول. خوشال دغه بوډا او ناکام مبارز د ۷۸ کالو په عمر په ۱۲۹۱ کې په خپل هیواد (د ختکو په غره) کې له نړۍ څخه سترګې پټې کړي. د هغه وروستۍ خبره داوه: «ما داسې ځای خښ کړئ چې د دښمن سیوری می پر خاوره و نه لویږي».

په دې توګه په ختیځ کی د خلکو آزادي غوښتونکی مبارزات چې د هند د بابري نیواکګرو په وړاندې په څوځو ځله او په بیلابیلو څپو له شپاړسمې پیړۍ څخه پیل شوی وو، د اولسمې پیړۍ تر پای پورې راورسیدل سره له دې چې دغه اوږدې فدارکارۍ له ماتې سره مخامخ شوی، خو د نورو راتلونکو مبارزینو په رامنځته کیدو او د نیواکګرو په وړاندې د مقاومت په برخه کې یې ډیره ستره اغیزه وکړه. له بلې خوا د افغانستان په جنوب کې او په لویدیځ کې د خلکو مبارزو (په کندهار او هرات کی) بیا په اتلسمه پیړۍ کې د افغانستان د ختیز مجاهدات او مبارزات او د هغو ماتې تلافي کړل.

Scanned by CamScanner

## شپږم

# د جنوب په جبهه کې د افغانستان د خلکو آزادي غوښتونکی مبارزې او پاڅونونه او په کندهار کې د هوتکي دولت تأسیس

په کندهار باندې د ایران د صفوي دولت د واک دوام. په تیره بیا د «نفاق اچولو» پر سیاست ولاړو، له دې امله چې په دغه ولایت کې د خلکو ځواک له ابدالي او غلجي قبایلو څخه جوړو، نو ځکه د ایران د دولت ډیره پاملرنه همدوی ته وه. سره له دې چې ددغو دوو کورنیو ترمنځ په کلات کی د ځمکی پرسر اوږدې شخړې وې او اوس مهال دغو شخړو میراثي او عنعنوی بڼه غوره کړی وه. او اوس د سیمه ییزه واکمنی د نیولو لپاره د قومونو د فیوډالانو ترمنځ هم یو د بل په وړاندې سیالي او تضادونه وو. د خانانو دغه سیالي او تضادونه یواځې په دې پورې نه و تړلي چې غلجی او ابدالیان یو بل سره واچوي بلکې په هر قدم کی د نه هم د نفاق اورونه بل او د هر خان خپل سیال په هره بڼه چې کیده له منځه یی وړ. نو په دې حالت کی صفوي واکمنو ددغه کورنی نفاق د اور د بل ساتلو په خاطر یوه ته امتیاز ورکاو او بیا به یې د بل په غاړه ور اچاو او هر هغه څوک به چې د صفوی دولت مخالف و، هغه به یې ټکاو. لکه هماغسې چې بابري حکامو هم کټ مټ همدا عمل تکرار کاو. د کلات په سیمه کې د غلجیو د مشر سلطان ملخی توخي کورنی تر نولسمي پیړۍ پورې د هندوستان د پاچا اورنګزیب اعزازي فرمان د ویاړ په توګه ساتلی و. د ارغستان او صفا ښار دوو ابدالیانو خانانو ملک حسین او شیرخان یوه ته یې له صفوي دولت څخه د «مرزا» لقب او منشور له اکلیل او غرونډې لرونکی آس سره یوځای ورکړل شول او هغه بل ته یې د هندوستان د بابری دولت فاخر او خلعت او د شهزاده لقب ورکړ شو او دوی په خپلو قبیلو کې د همدې دولت په ګټه او پلویتوب فعالیت کاو او دوی دواړو یو بل سره سیالي کوله.

په هرحال، وروسته له هغه چی شاه حسین صفوی په ۱۲۹۴ د ایران پاچا شو، نو ګرجستانی اړ دوړ غوښتونکی ګرګین خان یې چې صفویانو ماتې ورکړی وه او مسلمان شوی و د کندهار په حکومت وټاک. دغه شخص یو ځواکمن ګرجستاني ساتونکی ګارد او شل زره ایرانی سرتیري له خپل ځان سره لرل او کله چې کندهار ته راورسید په ډیر شدت او عصبانیت سره یې حکومت کول پیل کړل. هغه په دې باندې پوهید، چې نور نو د هند بابری دولت مخ په ځوړ دی او د پخوا په شان نور نشی کولای چی د کندهار غلجیان یا أبدالیان ځانته ور مات کړي، نو ځکه یې له سیمه ییزو خانانو سره ښه چلند کولو ته اړتیا نه لیدله په تیره بیا کله چې دولت خان ابدالي «د احمدشاه بابا نیکه» خپل پخوانی سیال حیات سلطان ابدالی له مخې لرې کړی و او ملتان ته یې په مهاجرت کولو اړ کړی و نو اوس په خپله د ابدالیانو یو ځواکمن خان و چې د قوم د کورنی

خپلواکي په خاطر يې د صفوي حاکم په وړاندې مقاومت کاوه. نو ځکه ګرګين د ابداليانو د بيخي له منځه وړو په لټه کې شو او وبې غوښتل چې د پخوانيو حاکمانو برعکس چې زياتره يې د غلجيو له خانانو سره په ابدالي خانانو ډېره لګوله، هغه په غلجيو ډېره ولګوله او ابداليان يې هير کړل. نو ځکه يې په شهر صفا کې د دولت خان ابدالي کلا ته لښکر ولېږ او هغه يې کلا بنده کړه او په خپله دولت خان او هغه مشر زوی نظر محمد خان يې ونيول او اعدام يې کړل. خو دوه نور زامن رستم خان او زمان خان وتوانېدل وتښتي او په ارغستان کې يې نورو ابداليانو ته پنا يووړه. ګرګين غوښتل چې دا دوه هم له منځه يوسي نو هغوی ته يې وړانديز وکړ چې د قوم د مشرتوب لپاره رستم خان د هغه د پلار په ځای مني په دې شرط چې هغه خپل کوچنی ورور زمان خان ده ته برمته وسپاري. رستم ومنله او زمان خان يې ور واستاوه. ګرګين زمان خان کرمان ته واستاوه چې هلته يې نظر بند وساتي ځکه چې ګرګين د کندهار، کرمان او اسماً حاکم و خو لا اوس هم د ګرجستان حاکم هم و.

له هغه وروسته ګرګين يو څو موده له رستم خان سره ښه چلند وکړ چه هغه ډاډمن شي، خو بيايي د يو کار په پلمه ځان ته ور وغوښت او ډير ژر يې اعدام کړ. وروسته يې بيا په زور سره د دولت خان اړوند ټول ابداليان له ارغستان څخه وشړل او د ګرشک او فراه ترمنځ سيمو ته يې تبعيد کړل او د دغو ابداليانو ځمکې يې غلجيو ته ورکړې. ابداليان مجبور شول چې شورابک او د فراه په دښتو کې په خارويو په روزنه لاس پورې کړي او يو څه نور يې په هرات کې تر اسفزار پورې ميشت شول. ددې پر ځای ګرګين له غلجيو سره يو څه ښه چلند پيل کړ او د هغوی خانان يې ځان ته ورنژدې کړل او د هغوی په سيالي او زور يې په ابداليانو باور وکړ، خو له دې سره سره غلجيان ورو ورو په کندهار کې د ايران له واک سره مخالف شول. په همداسې يو مهال کې يو غلجي مشر د خلکو لارښوونه ترلاسه کړه او د سياست ډګر ته ننوت. وروسته څرګنده شوه چې دغه څېره د لوړ ذکاوت او د قوي ارادې لرونکی دی. دغه وطنپال او آزادي غوښتونکی څېره هماغه نامتو ميرويس خان و.

## هوتکی ميرويس (۱۷۱۵–۱۷۰۹)

ميرويس د شاه عالم زوی (د غلجيو د هوتکي کورني يو خان و) چې په ۱۲۷۳ کې يې نړۍ ته سترګې وغړولې مور يې (نازو) د توخي قوم د يوه خان لور وه. ميرويس درې ورونه درلودل چې نومونه مير عبدالعزيز، مير يحی او عبدالقادر وو او دوه زامن يې لرل چې نومونه يې ميرمحمود او ميرحسين وو. د ميرويس خان ميرمن د ابداليو د سدوزيو له قوم څخه د جعفر خان لور وه. ميرويس د کندهار په ښاري چاپيريال کې رالوی شو، هغه مهال د افغانستان په پښتنو کې کرنه او مالداري ډيره رواج وه، د کندهار ښار د صنعت، سوداګري، پيشه وري او فرهنګ له پلوه ښه پرمخ تللی و او يو غوړيدلی ښار و او د ختيز د غرنيو بيوزلو خلکو په پرتله د جنوب خلک هوسا وو. کندهار چې د هند او ايران ترمنځ د سوداګريزی لارې پر سر پروت و، د يوه ملي دولت د جوړولو لپاره ډير مساعد و، ميرويس په يوه همداسې چاپيريال کې د فيودالي او قبيلوی دود- دستور سره سره په خپله په سوداګري بوخت شو او د

ښاري منځنی طبقي وګړي شو، په داسې حال کې چې د هغه قومي اړیکی او د خاني دریخ له اشرافو او نورو قومونو سره د پخوا په شان پاتی و

میرویس له نژدی څخه ولیدل چي بهر حکومت له هیواد والو سره له تبعیض او ظلم څخه ډک چلند کوي. ده د خپلې سوداګري په ترڅ کې ولیدل چې د پردیو جیب ته د ترانزیت او مال التجارې له لارې څومره ډیرې پیسې ورځي او په څه ډول سره دده هیوادوال فقط د سوداګرو د کارګرانو په توګه اړ دي چې سوداګریزې لارې وساتي او بس. همدارنګه هغه لیدل چې خلک اړ دي چې د خپلو لاسونو په تناکو شل زره پردیو سرتیرو ته خوراک ورکړي او هغوی د خپلو خانونو څپلو او ټکولو ته چاغ کړي او له دې پرته دوی په دې هم اړ دي چې، د ایرانی حکامو د تبعیض او تکبر بارهم په ذلت او اسارات سره یوسي او یوه بیعدالتی وګالي. هغه په دې باندې پوهید چې که چیری د قبایلو ترمنځ نفاق له منځه ولاړ شي او تیت و پرک خواکونه د یو موټي په توګه سره راټول شي، نو بهرنی واک به ړنګ او ملت به د پردیو له زنځیر او حکم څخه خلاص شي، نو ځکه په دې لټه کی شو چې دغه ستره دنده ترسره کړي. دداسې یوي دندې د ترسره کولو په خاطر له عمومي شهرت څخه پرته یو عمومي اعتماد او عمومي وجاهت ته هم اړتیا وه. د قبایلو خانانو هغه له پخوا څخه پیژاند او هغه یې د خپل کتار په سرېو کی شماره، ښاري خلکو د هغه درانه کړه وړه لیدل او له شرافت څخه یې خبر وو او د هغه خیر غوښتنه یې د سر په سترګو لیدله او په هغه یې باور درلود. څه چې پاتی و او په کار و هغه د عمل آزادي وه چې دا د یوه نظامي حکومت د څار (مراقبت) تر شرایطو لاندې نا ممکنه وه. په دی حال کی میرویس له دښمن سره ددوستي له لارې وړاندی ولاړ او ګرګین یې د خبرو اترو، مشورو او د مالیاتو په راټولو کی د خدمت له طریقه او د اداري چارو د منظمولو له لارې په ځان ډاډمن کړ او د هغه پام یې راواړاو، آن دا چې ګرګین د هیڅ یوه کار پیل پرته دده له سلا څخه نه کاو. د میرویس دغه لیاقت او کفایت ددې لامل شو چې ګرګین هغه د ښار د کلانتر په توګه وټاکه دغه دنده په هغه مهال کې د ښاروالي او د ښاری نظم دنده وه. میرویس ددغی دندې په ترڅ کې د خلکو پوره باور ترلاسه کړ او په ټولو چارو کې د خلکو او د حکومت ترمنځ منځګړی وګرځید چې په عین حال کی یې د قبایلو له خانانو سره له مینې ډکې اړیکې وساتلی او هغوی سره غمراز و، په تیره بیا هغه د ابدالیانو زوم و نو کرکه یې ورڅخه نه کوله. خلک چې د ظلم او تیري له لاسه تر پوزې رسیدلي وو، د یوې چارې په لټه کی وو، میرویس شاه حسین صفوي ته یو لیک برابر کړ. په دغه لیک کې د ګرګین له ظلم څخه داد خواهي شوی وه. دغه لیک د میرویس او د ښار د مخورو په لاسلیک د اصفهان تر دربار پورې ورسول شو، او هیله دا وه چې د ګرګین درونډ او ظالم لاس څخه به خلک وژغورل شي او د خلکو لپاره به د فعالیت آزاده چاپیریال برابر شي، خو صفوي فاسد شوي دربار ددغو کارونو د ترسره کولو نه وو، ددې پرځای ګرګین له دې خبرې څخه خبر او میرویس بې د ښار له کلانتري څخه لرې او د شکایت د عریضې د څو تنه لاسلیک کوونکو سره یو ځای یې په تحت الحفظ بنه د ایران دربار ته ولیږل او د ایران ددولت ددښمنانو په توګه ورو پیژندل شول. ګرګین په ظلم او تیري کې نور هم زیاتی راوست. د ګرګین دې کار غلجیان نور هم وپارول، حال دا چې ابدالیان لامخکې د دولت خان د

Scanned by CamScanner

د ایرانیانو نه پخلا کېدونکي دښمنان شوي وو
کورنۍ به نیولو، وژلو او لوټلو سره د دولت تر څارنې لاندې و. وېې کولای شول چې ډېر ژر خان د ګرګین له
خو میرویس چې په اصفهان کې د دولت تر څارنې لاندې و. وېې کولای شول چې ډېر ژر خان د ګرګین له
تهمت څخه پاک وښيي او خان را خلاص کړي همدارنګه د ه خلک او دولت د اداري ماهیت په ښه ډول
وڅېړل او په دې وپوهېد چې دربار په فساد اخته شوی دی. پاچا یو بې کفایته او د دربار مامورین
نالایق او مغرض دي. د کار سرې شړل شوي او ځای یې رشوت خوړو او بیکاره خلکو نیولی چې په
خرافاتو اخته دي د اداري چارې ګډې وډې او پاچا د اورادو، دعاګانو، تعویذاتو، فال کتلو، جفر او د
حرم له خواجه سرایانو سره په خبرو لګیا وي. خو د ایران خلک د مالیاتو تر ډېر درانه بار لاندې کړوپ
او د ملاک او خان او د دولت د عمالو له ظلمونو څخه تر پوزې رسیدلي دي میرویس ډاډه شو چې له
دغې ډول فاسدې اداري څخه د خپلواکي ترلاسه کول آسانه دی، خو د افغانستان د خلکو د نظر یو والی
د اقدام لپاره لومړنی شرط دی، په داسې حال کې چې د خلکو لارښوونه د سیمه ییزو خانانو او ملایانو
په لاس کې ده، دغه خانان څه نا څه له صفوي حکامو سره تړلي او څه نور یو بل سره په سیالیو کې اخته
دي او ملایان هم خلک د اسلامي ورونو په وړاندې له پاڅون او جګړې کولو څخه ویروي او تخدیر
کړي یې دي. نو میرویس چې په صفوي دربار کې د خپل منطق او ښه چلند له امله اعتبار ترلاسه کړی و
او آن دا چې د پاچا باور یې ترلاسه کړی و او د ایران صدراعظم اعتمادالدوله یې د ګرګین د اداري په
نسبت بد بین او شکمن کړی و. د حج کولو اجازه یې واخیسته او مکې ته ولاړ.

هغه په دغه سفر کې له هغو خلکو سره خبرې اترې وکړې چې په سیاست کې پوهېدل او بیایې مذهبي
علماوو ته مخ واړاو او د افغانستان د مسلمانو خلکو په نوم یې له هغوی څخه فتوا وی ترلاسه کړې. په
دغه فتوا غوښتنه کې د هغه موخه دا وه چې خلک د پردیو نیواکګرو په وړاندې پاڅون ته وهڅوي او د
کندهار ملایان غلي او قانع کړي هغه د دغه آجنداوې خپل کارکې شاملې کړې: لومړی دا چې آیا که
چیری د یوه مسلمان ملت د مذهبي فرایضو په ادا کولو کې د حکومت له خوا ستونزه رامنځته شي، آیا
دغه ملت له شرعي پلوه دا حق لري چې ځان د نورې په زور له دغه ډول حکومت څخه آزاد کړي؟ دوهم،
که چیری د قوم خانان له خلکو څخه د یوه ظالم پاچا لپاره بیعت اخیستی وي، آیا خلک حق لري چې دغه
ډول بیعت شرعاً فسخ او باطل کړي؟ د حجاز دیني عالمانو د دغو دواړو پوښتنو په اړه مثبت او
پریکنده ځوابونه ولیکل. همداو چې میرویس بیرته راوګرځید او اصفهان ته راغی. دده چلند او سیاست
او هغه شک چې صفوي پاچا او اعتمادالدوله د ګرګین په اړه پیدا کړي وو، دواړه یوځای، د ګرګین د
خوښۍ سره سره یوځل بیا ده ته د کندهار د ښار کلانترې وسپارل شوه او پاچا د هغه مشرتوب هم د
کندهار په غلجیو کې رسماً تصدیق کړ، دا څکه چې صفوي دربار د روس د دولت د یوه سفیر په راتګ
سره چې (اسرائیل) نومید ویره کې لویدلی و. دغه سړی ارمنی او د ګرګین وطنوال و، او کلونه یې
په اطریش، فرانسه، آلمان، ایټالیا او روسیه کې سوداګري سیاسي او نظامي فعالیتونه کړي وو او
دادی اوس د روسیې د تزار پتر له خوا د سفیر په توګه ایران ته ورغلی و. په اصفهان کې داسې ویل
کیدل چې دغه سړی د ارمنستان د دولت د جوړولو خیال لري، نو ددې ګوابښ شته؛ چې ګرګین به د

همدې سرې په لاس د روسیې له هیواد سره یو ځای شي او د ایران د تابع ارمنیانو په اتفاق سره به ار- دوړ جوړ او جلا به شي. د ایران دربار میرویس خپل پلوی او د ګرګین مخالف ګڼلی و، ځو د موازنې د ساتلو لپاره یې په بیړه هغه کندهار ته ولیږ. میرویس د کندهار د لارې په اوږدو کې به چې هرځای کې کوم خان او ملا ولید نو ورکوز به شو او خبرې اترې به یې ورسره وکړې او د ایران د فساد او د آزادې د ترلاسه کولو د اړتیا په هکله یې هغوی ته خبرې کولې او د حجاز د علماوو فتوا به یې د دیني معتبر سند په توګه هغوی ته شودله. میرویس د ملا، خان او قوم د پیوستون سپارښتونه کول او ټول یې په کندهار کې د یوه عمومي اقدام په تمه کړل. د فراه، سیتسان او کندهار ټول خلک که تاجک وو که هزاره وو او که پښتانه وو او که بلوڅ ټولو هغه د خپلې خپلواکۍ د لارښود په توګه وپیژاند. کله چې میرویس کندهار ته راغی له ګرګین سره یې په ښکاره ګوزاره کوله خو په پټه یې د ابدالیانو، غلجیو او نورو قومونو له مشرانو سره په ښار کې د ننه او بهر خبرې او اترې کولې او د یو عمومي پاڅون طرح یې جوړوله. د میرویس دغه عاقلانه او دوام لرونکی اقدام تر ۱۷۰۹ پورې اوږد شو ترڅو چې یې د کندهار د ښار په شمال ختیځ کې په ۳۰ میلی واټن کې د مانجې په سیمه کې یوه پټه جرګه جوړه کړه او پریکنده ژمنه وشوه چې ګرګین به د ایران له لښکر سره یوځایي له منځه وړي او یو ملي او خپلواک حکومت به جوړوي. په دغه جرګه کې د قومونو مشران او د هغو د هر یوه دندې هم وټاکل شوې، ترڅو دوی ټول د صفوي دولت د هر ډول اقدام او نظامي عمل په وړاندې چمتو شي.

. میرویس پر له پسې هڅې، نوښت او قابلیت ددې لامل شو چې دغې جرګې میرویس په ډیره خوشحالۍ سره د ملي ځواکونو د مشر په توګه ومانه. د دغې جرګې یوه څرګنده ځانګړتیا دا وه چې د پخوا بر خلاف په هغې کې ټول په یوه اتفاق، هزاره، ابدالي، غلجیان، تاجک، ازبک، بلوڅ او ملایان او مخور او ټول د ښار دننه او بهر په خبرو اترو شول او د یوه عمومي پاڅون ملاتړیې وکړ. دوی ټول د یوه غښتلي ملي قوت په توګه سره یو شول. د دغې جرګې یوشمیر نامتو ګډونوال دا وو: میرویس خان، یحیی خان د میرویس ورو، محمد خان (چې په حاجي انکو یادید) د میرویس وراره، یونس خان کاکړ، نور خان بریڅ، ګلخان بابري، عزیز خان نورزایي، سیدال خان ناصري، بابوجان بابی، بهادر خان، یوسف خان او ملا پیرمحمد المعروف په میاجي او نور. د دغې جرګې مقررات په پوره آرامي او پټ ډول عملي شول. دغه پټوالی دومره په مهارت سره و چې ترښودل شوی ګړۍ پورې د حکومت یو تن هم ورباندې پوه نه شو، حال دا چې پاڅون کوونکي ځواکونه په هر لوري کې سمبالیدل. د جرګې یوه پریکړه دا هم وه چې له دې امله چې د کندهار په جنګي کلکه کلا کې د ننه د ګرجیانو او ایرانیانو غټه شمیره سپاهیان میشت دي، باید داسې لارې- چارې ولټول شي چې راکم شي. ددې موخې لپاره یوه بلوڅ مشر د مالیې له ورکولو څخه په کلکه مخ واړاو، له بلې خوا میرویس ګرګین و هڅاو چې د بلوڅ د ځپلو لپاره او د مالیاتو د اخیستلو لپاره تیرین ته پوځ ولیږي. دې پسې کاکړو په ارغستان کې له مالیاتو ورکولو ډډه وکړه، نو د هغوی د ټکولو لپاره په خپله ګرګین له ښار څخه ور ووت او هلته یې وهل ټکول، لوټ او بندي کول پیل کړل. په همداسې یو مهال کې یې هغه د ارغستان دده شیخ په سیمه کی د شپې له خوا یوه بڼ ته

Scanned by CamScanner

را میلمه کړ، نیمه شپه میرویس له کسات اخیستونکو خلکو سره یوځای راغی او په تورو یې وهل دا وهل داسې و چې د دښمن یو تن هم ژوند پاتې نه شو، سمدستي میرویس له درې زره تنو سره چې آسونه او د دښمن وسلې هم ورسره وې مخ په ښار ورغلل نظامي ساتونکو په غلطۍ سره دروازه پرانیسته او د ګرګین د بیرته راستنیدو په فکر کې شوي و، تر سبا پورې د ګرجي او صفوي لښکر څخه یو تن هم ژوندی نه و پاتې، په دې توګه په ۱۷۰۹ کې د ملي آزاد حکومت د جوړیدو او د دښمن د پریکنده ماتې اعلان د لومړي ځل لپاره د ورځې په رڼا کیدو سره خپور شو او ټول پښتانه، تاجک، هزاره، ازبک او بلوڅان په یوه واحد کتار کې د بهرني دښمن په وړاندې سره ودریدل.(۱)

## د کندهار هوتکي دولت (۱۷۰۹–۱۷۳۸)

د ګرګین له وژل کیدو څخه وروسته چې په کندهار کې د حکومت د جوړولو لپاره کومه طرح وړاندې شوه، په واقعیت کې په ټول افغانستان کې د راتلونکې لپاره د یوه سراسري دولت د جوړولو زړی (هسته) وه؛ خو په لومړني پیل کې دغه کار ډیرې زیاتې ستونزې درلودې.

دا ځکه چې لا دا مهال د هیواد په لویدیزو ولایتونو لکه سیستان، فراه، هرات، مرو، نیشاپور او مشهد کې صفوي حکام او پوځونه واکمن وو او ډېر ختیځ کې تر کابل او غزني پورې د هندوستان د دولت واک چلید، دغو سیمو د کندهار او د افغانستان د شمال خپلواکو ولایتونو ترمنځ اوږده او پرېړه کړنه جوړوله، نو ځکه میرویس د خپل لومړني ګام د اینښودلو لپاره د یوه ځای د ټینګولو لپاره هڅې پیل کړې او خپله ټوله پاملرنه یې کندهار ته واړوله. هغه د دغې ملي دندې د روند والي په ښه ډول احساس کړی و او ټولنیز شرایط او چاپیریال یې هم ښه درک کړی و، نو ده سمدستي چې د پردیو نیواکګرو ځواک د قومي فیوډالانو د یوې لړۍ په منځ کې مات کړی و او اوس د هغو په منځ کې ایسار و نو په داسې حال کې یې ډیر ژر نشو کولای چې یو متمرکز فیوډالي دولت جوړ کړي، سره له دې چې جرګو واک او مشري میرویس ته ورکړی وه او ملایانو هم د مکې او مدینې د علماوو د فتوا تر لوستلو وروسته ورسره یوځای شوي وو، خو بیا هم میرویس دوی ټول پیژندل، نو په ډیر احتیاط یې ګام پورته کړ. هغه ددې پرځای چې د پاچاهي نوم په ځان کیږدي او د خپل ځان په وړاندې د خانانو حسادت او سیالي راوپاروي او د قومونو ترمنځ نوې رامنځته شوی اتفاق او لومړني تشکیلات بیرته خراب کړي، خپل ځان یې د قوم د مشر په توګه او له نورو سره برابر معرفي کړ، خو خلکو په ډیر درناوي سره هغه ته د (حاجي میر خان) نوم ورکړ. میرویس خان وکولای شول چې ټول خانان له وطن څخه د پردي دښمن د شړلو او د ملي خپلواکي د ترلاسه کولو په هکله تر پای پورې ځان سره یو موټی کړي. نو ځکه یې پنځه زره تنه وسله وال داوطلب لښکر جوړ کړ چې شاته یې نور په زرګونو تنه له نورو قومونو څخه ولاړ وو. بیایې د کندهار ټول پخواني نظامي، دولتي او اجرایي قضایي او مالي دوایر لکه د پخوا په شان په ترتیب سره

---

۱– د پښتنو تاریخ– قاضي عطاالله– ۵۵مخ لومړی ټوک.

وسائل ده ترټولو مخکې يې يو ځواک د هغه لښکر مخې ته ورولیږ چې ګرګین هغه د تیرین د بلوڅانو ته لیږلی و او دا دی اوس په بریالیتوب سره بیرته د کندهار ښار ته را روان و. د دښمن پوځ چې د ګرګین د پیښې له خبرېدو څخه وروسته خان کلابند ولید، د خپل ژوند د ساتلو لپاره یې تر وروستۍ توان پورې مقابله وکړه او آخر د ګرشک په لورې وتښتېدل خو هلته هم پسې واخیستل شول او ټول یې ووژل شول. یواځې شپاړس تنه ګرجیان ژوندي وتښتېدل او همدوی اصفهان ته د ایران د لښکرو د ماتې او د ګرګین د وژل کېدو خبر ورساو. خو دا مهال ترڅو ایران کوم کار ته ځان چمتو کاو کندهار د هر ډول دفاع لپاره ځان چمتو کړی و. ټول خانان، د ښار اوسیدونکي او قبایل د خپل ملي حکومت ترشا دریدلي و.

میرویس د یوه پوخ سیاست مدار په توګه د اړینو چارو له ترسره کولو وروسته ډېر ژر یو لیک د هندوستان پاچا ته واستاو، په هغه کې یې د صفوي دولت په وړاندې خپل مخالف دریځ او د هند دولت ته یې خپله دوستي وښودله او خپل ټول ځواکونه یې د ایران د عملیاتو خواته متوجه کړل. ځکه چې میرویس په دې باندې پوهید چې دده دغه اقدام به هیڅکله د ایران له خوا بې ځوابه نه وي، نو په ځرګنده یې یو لیک د ایران صفوي دولت ته هم ولیږ او پکې ویې لیکل: کله چې زه په خپلو ځمکو کې په کښت او کار باندې بوخت وم، خلکو چې د ګرګین د ظلم له لاسه پوزې ته رسیدلي وو هغه وواژه او زه یې د مشر په توګه غوره کړی یم، که چیرې پاچا د مغرضینو خبرو ته غوږ ونه نیسي او له دغو پیښو سترګې پټې کړي زه کولای شم چې امنیت ټینګ کړم او دغه فتنې ورو ورو غلې کړم. البته د میرویس دغه لیک نشو کولای چې د صفوي دولت د قناعت وړ وګرځي، خو بیاهم دومره شو چې کندهار ته د ایران فوري سوقیات لږ څه وځنډوي دا ځکه صفوي دربار چې د میرویس په لیک سره په شک کې لویدلی و، دا یې غوره وبلله چې له نظامي عملیاتو څخه مخکې له کندهار څخه پوره اطلاعات او د وضعیت په هکله معلومات ترلاسه کړي، نو ځکه یې جاني خان نامي کندهار ته د استازي په توګه راواستاو دغه سړي ویل چې که چیرې په کندهار کې د ایران د سرتیرو اوسیدل و منل شي، نو د ایران پاچا به د ګرګین د وژل کیدو له کسات څخه ډډه وکړي، که نه پرته له هغه به دا کار په زور سره وکړي. خو میرویس دغه سړی یو څه موده په خبرو اترو بوخت کړ او همدا چې پوه شو چې اوس بیرته ستنیږي، هغه یې بندي کړ، ترڅو چې د صفویانو دربار ژر د کندهار له فعالیتونو څخه خبر نشي او دلته د سمبالولو لازیات وخت ترلاسه شي. همداو چې د کندهار شاوخوا کلاوې او د دښمن د راتلو لارې ټینګې کړل شوې او د ښار دننه د وسلو په جوړولو او د وسلو په راټولولو کار پیل شو.

ایران ته د جاني خان بیرته نه ستنیدلو د صفوي دربار ویره نوره هم زیاته کړه، دې پسې یې په ۱۷۱۰ کې لس زره سرتیري د هرات د والي محمد خان تر مشرۍ لاندې (چې د میرویس شخصي دوست او د حجاز په لاره کې دده د سفر ملګری و) کندهار ته راولیږل شو. د دغه سړي استازي ته په کندهار کې په ډېر ارزښت سره ښه راغلاست وویل شو. له ده سره هم د صفوي پاچا هماغه پخواني پیغام و او پکې راغلي و چې که میرویس یې ومني نو همدي به خپله د کندهار په حکومت کې بیرته مقرر شي، خو میرویس ځواب ورنه کړ او د خپل پخواني دوست محمد خان استازی یې په غلي ډول بندي کړ. د کندهار ژورې

چوپتیا د هرات والي محمد خان دې ته اړ کړ چې له خپلو سرتیرو سره په کندهار یرغل وکړي میرویس خان له خپلو نوي پنځه زریز پوځ سره د هغه مخه ونیوله، سره له دې چې دغه پوځ نه نظامي مشق او تمرین درلود، او نه یې هم توپونه او نور څه لرل، خو معلومات یې بشپړ او په جګړه کې یې په ډله ییزه بڼه په داسې حال کې چې تورې ورسره وې، د دښمن پر منظم لښکر ورغلل. د افغانانو د سپرو د لښکر دغه ګړندي یرغل د دښمن د لښکر زړه ور سوری کړ او د ایران لښکر مات شو، د دغه لښکر سرقوماندان او زر تنه مړي د جګړې په ډګر کې پاتې شول.

له دې څخه وروسته د ایران دولت په دې لټه کې شو چې یو ځواکمن پوځ د کندهار د کار د یو اړخیزه کولو لپاره ولیږي. نو په ۱۷۱۱ کې یې د دیرش زره ایراني او ګرجي سرتیرو په ګډون یو لښکر د خسرو خان ګرجي (د ګرګین وراره) تر مشرۍ لاندې کندهار ته سوق او روان کړ. دغه لښکر د هلمند تر غاړې د میرویس له لښکر سره ونښت وېې کولای شول چې میرویس ته ماتې ورکړي. میرویس امر وکړ چې د کندهار د ښار دروازې بندې او خسرو یې پرېښود چې ښار په آسانۍ سره کلابند کړي. خسرو له کرمان څخه د راتېریدو پرمهال، د دولت خان ابدالي زوی زمان خان (چې هلته بندي او نظر بند و) له ځان سره کړ او هغه یې د کندهار د ابدالیانو د مشر په توګه منلی و، هغه ته یې وویل چې یوشمیر ابدالي مشرانو سره لیده کاته وکړي او د کندهار د غلجیو پرضد له ده سره ګډون وکړي. دا ځکه چې د کندهار غلجیو لا مخکې (د میرویس له خوا د خپلواکۍ تر اعلانولو وروسته) د حیات سلطان ابدالي زوی عبدالله خان چې د زمانخان د پلار په لاس ملتان ته په هجرت کولو اړ شوی و، کندهار ته را غوښتی و، او د ابدالیانو د مشر په توګه یې ټاکلی و او دا مهال عبدالله خان د ټول کندهار د ابدالیانو د مشر په توګه دلته موجود و او له میرویس خان او ټولو غلجیو سره یې په ګډه په روغه جوړه ژوند کاو، نو زمانخان اړ و چې خپلو پلویانو سره د خسرو او ایران لوری ونیسي، خو زمانخان ملي ګټې غوره وبللې او شخصي ګټې یې پرېښودې او خپل قومي سیال عبدالله خان سره یو ځای شو.

خسرو چې له ابدالیانو څخه بیخي ناهیلی شو، نو یوازې په خپل پوځ یې ډډه ولګوله او ښار یې کلابند کړ. د ښار خلکو په میړانه د ښار ساتنې ته ملا وتړله، سره له دې چې کلابندي اوږده شوه، خو دوی هم مقاومت وکړ. میرویس چې له ښار څخه ځان بهر پرېښی و، له شاوخوا خلکو څخه یې بیلابیلې ډلې جوړې کړې او په یوه پراخه کړۍ کې یې ایرانیانو ته خوراک او ارتباطي لارې چارې بندې کړې. خسرو چې دا حال ولید او د بیرته ستنیدو تمه یې وشکیده، نو پرښار یې خپل ګوزارونه او یرغلونه نور هم کلک کړل د خسرو دغه یرغلونه ډیر په زړورتیا وو، ځکه چې همدا د ایران د پوځ د ژوندي پاتې او یا هم وژل کیدو برخلیک و. خو د ښار او سیدونکي چې پوهیدل چې د ښار له لاسه ورکول د دوی د خپلواکۍ له لاسه ورکول او د خلکو د څوځو کلونو د مبارزو د پایلو په اوبو لاهو کیدل دي، نو په کلکه یې دفاع کوله. په همداسې یو مهال کې د میرویس یرغل د شپاړس زرو تنو په ګډون پیل شو. خسرو خان د ښار د یوه اوسیدونکي په ګولۍ ووژل شو، نو د ایران پوځ د تیښتې لاره لټوله، خو دا کار ورته ناشونی شو. میرویس له یوې خوا او ښاریانو له بلې خوا دښمن را ټینګ کړی و او له منځه یې وړ. په دې توګه د ایران

دیرش زره کسیز پوځ له تباهي سره مخامخ شو او یو څه له میدان څخه و تښتیدل. خو شاوخوا خلک ورته په کمین کې و او راوتل او د هغوی مخه یې ونیوله. د دغې جګړې په پای کې د ایران یو څو سوه تنه ژوندي پاتې شول او له بې لاریو څخه په وتلو بریالي شول. په دې توګه په همدې کال (۱۷۱۲) کې د کندهار خپلواکې بیخې ډاډ منه شوه.

سره له دې چې په ۱۷۱۳ کې یو بل لښکر هم له کرمان څخه د سردار محمد زمانخان په مشري مخ د کندهار په لوري راغی، خو کندهار ته لا نه و رارسیدلی چې د لارې په ترځ کې د خلکو په یرغلونو سره له منځه ولاړ، دا ځکه چې تر دې مهال پورې میرویس له فراه څخه د کندهار تر وروستیو بریدونو پورې او تر کلات او مقر پورې ټول د یوه اداري او ملي واحد په توګه راوستي وو او د دغو ولایتونو ټولو خلکو هغه د یوه ملي اتل په توګه او د خپل مشر او رئیس په توګه پیژندلی و. میرویس خان دغه ملي مبارز او د ملي پاڅون مؤسس او نوښتګره څیره چې د بهرنیو د واک د ختمولو او د ملي خپلواکي د ګټلو لپاره یې د افغانستان له یوې څنډې څخه په عملي توګه لاره پارنیستی وه ډیر لنډ عمر درلود. هغه لا خپله طرح نه وه بشپړه کړې چې په ۱۷۱۵ کې د ۴۱ کالو په عمر وفات او د کهکران (اوسني کوکران) په سیمه کې خاورو ته وسپارل شو.

د میرویس خان شخصیت او خدمات د دې لامل شول چې د قبایلو د خانانو تقریباً څلویښت کسیزه جرګه د هغه ورور میرعبدالعزیز د کندهار د حکومت په مشرۍ وټاکي، دا ځکه چې د میرویس زامن محمد او حسین لا ایله د څوارلسو او اتلسو کالو وو، خو میرعبدالعزیز د میرویس په اندازه کفایت نه درلود او د فیوډالي نوې جوړ شوي حکومت له اداره کولو څخه عاجز و. له همدې امله لومړي ابدالي خانان (عبدالله خان د حیات سلطان زوی او زمانخان د دولت خان زوی) د هغه له حکومت څخه جلا شول او د خپلو قوم له ډیرو وګړو سره یوځای بیخي له کندهار څخه ووتل، د هیواد لویدیځ ته یعنې فراه، هرات او اسفزار ته ولاړل او هلته مهاجر شول. له بلې خوا میرعبدالعزیز داسې احساسول چې لوی فیوډالان له هغه سره مساوي حقوق غواړي، نو ځکه یې د خپل شخصي حکومت لپاره، پرته له دې چې د مشرانو له جرګو سره کومه سلا وکړي، له صفوي دولت سره په خبرو اترو بوخت شو، هغه په دغو خبرو اترو کې له صفوي دولت څخه په دوستانه توګه وغوښتل چې ایران به له کندهار څخه مالیات نه غواړي او کندهار ته به عسکر نه رالیږي او د عبدالعزیز حکومت دې په میراثي بڼه تصدیق او ومني.

همدا چې د میرعبدالعزیز دغه خبرې اترې افشا شوې، ټولو خلکو خانانو او د میرویس کورنۍ د هغه په وړاندې پاڅون وکړ. د مخالفینو په سر کې د میرویس زوی محمود و چې د کندهار د ازبکانو په ګډون یې د ټولو خلکو ملاتړ ترلاسه کړ او خپل تره یې په توره له منځه یووړ[1] په داسې حال کې چې لا د میرعبدالعزیز له حکومت څخه یو کال نه و تیر خو له دې څخه وروسته د میرویس خان په کورنۍ کې نه رغیدونکې هڅې ماتول پیل شول او په ډیره نژدې راتلونکې کې غلجیان دوه برخې شول، آن دا چې غلجي دولت اړشو او د سپین ږیرو یوه جرګه راوغوښتل شوه او نولس کلن میرمحمود یې د (شاه محمود) په نوم د

[1] - تاریخ سلطاني ۷۳مخ.

میرعبدالعزیز پرځای وټاک. آن دا چې د میرعبدالعزیز زوی میراشرف هم په دغه ټاکنه او بیعت کې ورګډ شو.

## د شاه محمود د سلطنت پر مهال (۱۷۲۵–۱۷۱۶)

کله چې شاه محمود په کندهار کې پاچا کید، په هرات کې عبدالله خان ابدالي د خلکو او خپل قوم په ملاتړ ایراني حکومت را وپرځاو او د ملي حکومت خپواکي یې اعلان کړې وه. اسدالله د هغه ځوان او زړور زوی د خلکو مشري په لاس کې واخیسته او د هرات شاوخوا یې هم د صفویه دولت له واک څخه پاکه کړه. خو دغه بې تجربې ځوان فراه ته هم یو لښکر ولیږ او د هغه ځای کلک ښار یې چې د غلجیانو په حکومت پوری یې اړه درلوده د توري په زور ونیو. د عبدالله دغه حرکت مخالفینو ته ښه وخت ور په لاس کړ او قومي سوړ شوی نفاق یې بیا د غلجیو او درانیو ترمنځ را تازه کړ. چې دغه نفاق د نوي غورځنګ په زیان شو. په داسې حال کې چې میرویس خان په خپلو عاقلانه هڅو سره دغه اور تر خاورو لاندې کړی و او میرعبدالعزیز او شاه محمود هم دغه حساس ټکي ته لاس نه و وروړې، خو په فراه کې د اسدالله حرکت شاه محمود دې ته اړ کړ چې په ۱۷۱۹ کې فراه ته لښکر ولیږي. هغه جګړه چې د دوی دواړو ترمنځ د فراه په دلارام کې وشوه شاه محمود پکې بریالی شو او اسدالله یې د جګړې پر ډګر مړ کړ او بیرته کندهار ته راغی. د دې پایله د هرات د نوي ابدالي حکومت کاواکه کیدل و او ځلته د عبدالله خان په شان یوه تکړه سړي استعفا وکړه او چارې ټولې د سیالو خانانو په لاس کې ولویدې او له بلې خوا د افغانستان دغه دوه دولتونه ترخپلو پرځیدلو پورې له یو بل څخه جلا پاتې شول. د شاه محمود د همدې سفر په ترځ کې د سیستان خلکو هغه ته ښه راغلاست ووایه او د هغه هرکلی یې وکړ او هغه ته یې بیعت وکړ.

## د ایران نیول (۱۷۲۹-۱۷۲۱)

شاه محمود چې اوس د خپل دولت له کوچني ورېوی څخه ډاډه شوی و او هغه یې ښه تنظیم کړی و، د افغانستان د سیاسي او اداري یووالي پرځای یې د ایران د صفوی دولت د را پرځولو خواته پام واړاو. صفوي دولت له څه مودې راهیسي فاسد شوی و. د ایران خلک د اداري دستګاه له فساد څخه دومره زړه تنګی او خپه شوي وو چې آن اړ- دوړ او پاڅون ته هم تیار وو. د بیلګې په توګه یوخل لزکیایو پاڅون وکړ او شیراز یې ونیو. همدارنګه په ۱۷۲۰ کې لرستان سر واخیست او تر کردستان پورې یې اغیزه وکړه، بلوڅانو هم اړ-دوړ جوړ کړ او په ۱۷۲۱ کې یې عباس بند. ونیو.

په هرحال، شاه محمود په آساني سره وکولای شول چې خانان د کورنیو دښمنیو د لرلو سره سره د ملي ګټو د ساتلو او د بهرنیو په مقابل کې پاڅون کولو ته په یووالي سره په یوه لاره سیخ کړي. هغو خلکو چې مالداري یې نه لرله او په کرنه، صنعت او سوداګري کې ډیر بوخت نه وو. هغوی تول په خپله خوښه په لښکر کې ورګډ شول، دوی وکولای شول چې ډیر ژر جګړه بهر ته یوسي، په دې توګه شاه محمود له همداسې یوه ځواک سره په ۱۷۲۰ کې مخ په کرمان ورغی، خو صفوی ځواکونو چې پر ښار واکمن وو دفاع پیل کړه. نو ځکه د کرمان د کلا کلابندی اوږده شوه او د ایران نامتو سردار لطف علي خان یو مرستندوی لښکر وروست. جګړې لا دوام درلود چې شاه محمود په کندهار کې د سلطان بیخن لکزی فراهی له شورش څخه خبر شو چې هغه ملک جعفر سیستاني چې سیاسي بندي و خوشي کړی او ځان سره یې مل کړی. نو شاه محمود د کرمان کار یوې خوا ته پریښود، کندهار ته راغی، خو مخکې له دې چې هغه کندهار ته راورسیږي خلک راپاڅیدل شورشیان یې مات او بیجن او ملک جعفر یې دواړه له منځه یووړل.

شاه محمود په ۱۷۲۱ کې له ۲۸ زره پښتنو، ازبکو، هزاره او تاجکو عسکرو سره چې یوه ضعیفه زنبورک توپچي قوا ورسره وه (دغه توپونه په اوښانو وړل کیدل او د جګړې پرډګر به یې د لښکر مخامخ درول او د اوښ له شاه څخه به یې تر ۴۰۰-۳۰۰ متور پورې ځایونه ویشتل) د کرمان له لارې مخ په ایران ورغی. د بم او کرمان له نیولو وروسته مخ په اصفهان ورغی. د ایران خلک چې د صفوی دولت له ظلم او خپلسري څخه په تنګ وو، یوه هم د دولت ملاتړ ونه کړ او دفاع ته ونه دریدل، خو سره له دې چې صفوي دولت د خلکو له ملاتړ څخه بې برخي و، او مهم دولتي سړي یې لکه فتح علي خان او لطف خان بې رانده کړي وو یا یې بندیان کړي وو، بیایې هم په پلازمینه (اصفهان) کې شپیته زره عسکر او یوه لوی توپچي منظم ځواک دلود. همدا چې شاه محمومد له کرمان څخه د اصفهان لس میلي (ګلنار آباد) ته ور ورسید او پرته له جګړې یې وضع الجیش حالت یې ونیو، نو شاه حسین صفوی د خپل ملت بې طرفي او خپل ضعف ولید، نو ځکه د هغه صدراعظم محمد قلي خان شاه محمود ته د روغې-جوړې وړاندیز وکړ او هغه ته یې د ۳۷ زره سروزرو کونډه کړ و سکو د ورکولو خبر ورکړ. شاه محمود ونه منله. شاه محمود د سولې لپاره دغه شرطونه وټاکل:

لومړی دې د ایران پاچا (اوسنی) خراسان ولایت چې د افغانستان پخواني برخه ده، بیرته افغانستان ته

Scanned by CamScanner

ورپرېږدي. د ایران له شاهي کورنۍ څخه دې یوه لور له ۱۲۵ زره سرو زرو جیز سره شاه محمود ته واده شي.

پاچا او د ایران وزیران د شاه محمود د وړاندیزونو په منلو او رد کولو کې حیران شول، خو د خوزستان والي عبدالله خان له دغو وړاندیزونو سره مخالفت وکړ او جګړه یې غوره وبلله. همداو چې پنځوس زره سرتیري او ۲۴ لوی توپونه د اصفهان له ښار څخه د جګړې لپاره راووتل. دغه جګړه ډېره یوه کلکه جګړه وه. د ایران توپونو افغاني لښکر ته ډېر زیات د سر زیان واړاو، د خوزستان والي عبدالله خان لکه هغسې یې چې ویلی و، هغسې یې په جګړه کې له ځان څخه زړور توب ښکاره کړ. هغه د افغاني پوځ یوشمیر سپاهیان هم ونیول، خو د افغاني سپرو قوماندان امان الله خان په خپل خواک سره دښمن وارخطا کړ او افغاني جنګیالو خپلو تورو سره په زړورتیا سره په ایراني توپونو یرغل وکړ او د زیاتو تلفاتو په منلو سره د توپونو او توپکو تر اورلاندې لاړل او د دښمن توپونه یې ونیول. له همدې څخه وروسته د توپکو، زنبورک او توپونو اور ټول د ایران لښکر په خوا واوښت او د ایران د اردو ۲۵ زره تنه ووژل شول. د ایران د شاهي غلامانو قوماندان رستم خان او د توپچي قوماندان احمد خان هم په دغو مړو کې وو. په دې توګه د هغو سرتیرو په وړاندې چې له خپل وطن څخه په سلګونو میله لرې خای کې له ځان څخه تیر دي مقاومت ګټه نه درلوده، نو ځکه د ایران پاتې لښکر بیرته د اصفهان ښار ته پېشاشو، وروسته د نورو جګړو په دوام سره د ایران د اردو افسران دومره عصباني شوي وو چې افغاني بندیان یې ټول ووژل. د دغو بندیانو په ډله کې درې تنه د شاه محمود د کورنۍ غړي هم ووژل شول دا کار ددې لامل شو چې افغاني اردو هم ایراني اسیران ووژني او په دې توګه د دوو پاچاهانو ترمنځ له نظامي او سیاسي جګړې څخه پرته شخصي دوښمني هم پیدا شوه. وروسته تر هغه چې د ایران دولت د اصفهان ښار د ننه کلابند شو او هر لوري څخه یې د مرستې تمه وشکیده او د صفوي پاچا ټولې هغه غوښتنې چې دده د ولیعهد او زوی طهاسب مرزا له خوا خلکو څخه وشوې ټولې بې ځوابه پاتې شوې ځکه چې ملت ورڅخه کرکه درلوده.

افغاني لښکرو هڅه وکړه چې له اصفهان څخه د وتلو لارې بندې او ښار ته د خوراک د ننه ایستلو مخه ونیسي، نو په دې توګه ورو ورو په ښار کې کاختي راغله څومره چې کلابندي اوږدیده هومره د ښار خلک ناهیلي کیدل، ترڅو چې په ۱۷۲۲ کې وروسته تر اتو میاشتو کلابندۍ څخه شاه حسین صفوي تسلیم کیدو ته غاړه کیښوده او په خپله له خپلو درباریانو سره د شاه محمد قرارګاه ته راغی.

شاه محمود د دغه پاچا د راتګ هرکلی ته ورپاځید او ښه راغلاست یې ورته ووایه او له هغه سره په خواکې کیناست، افغاني ځوان پاچا (چې ۲۵ کلن و) زاړه پاچا ته چې ۳۰ کاله یې پاچاهي کړې وه د خبرو اترو پر مهال (پلار) ووایه او په ادب سره یې ورته وویل: د دنیا جاه او جلال او شان او شوکت داسې بیوفا دی، خدای (ج) چې چاته یې وغواړي ورکوي یې او له چایي چې واخلي اخلي یې. زه تاته داد درکوم چې پرته ستا له سلا څخه به کوم کار نه کوم. شاه حسین په ځواب کې د ایران شاهي تاج (خول) په خپل لاس د شاه محمود پر سر کیښود او مبارکي یې ورته وویله. شاه محمود په بله ورځ پلازمېنه

اصفهان د هغه له خزانو، وسلو او توسکو سره ونیو او د ایران پخواني پاچا ته یې یو کور او معاش وټاکه. په دې توګه شاه محمود په ایران کې د خپل واک د ټینګولو په خاطر افغانستان پرېښود او اصفهان یې خپله پلازمېنه کړه. میرحسین د شاه محمود ورور چې له پاچا شاه محمود سره په سفر کې مل و، له ایران څخه کندهار ته راغی ترڅو حکومت په لاس واخلي. میرحسین په کندهار کې په آرامي سره د حکومت په چارو بوخت شو. دا څکه چې لوی خانان او اشراف ټول له شاه محمود سره په ایران کې بوخت پاتې شول او کور د ننه د غتو فیوډالانو هر ډول سیالي پاکه شوه. شاه حسین د همدغې هوسایني په سیوري کې وکولای شول چې پښتو ادب ته هم پاملرنه وکړي او یوشمیر شاعران یې وهڅول.

خو شاه محمود په ایران کې څه وکړل؟ سره له دې چې د ایران خانانو او سیمه ییزو مشرانو چې د صفوي دولت په پرځیدو او د افغانانو په واکمن کیدو سره خپلې ګټې له خطر سره مخامخ لیدلې، او د هیواد په هره څنډه کې د مقاومت په لټه کې و او همدارنګه وروسته بیا عثماني دولت او د روس دولت د طهاسب مرزا په ورتګ سره او له هغه څخه دده له خوا د مرستې په غوښتلو سره هغه سره مرسته وکړه (طهاسب مرزا د سلطان حسین زوی و) او هغه یې د ایران په لویدیځ او شمال کې واکمن کړ، نو شاه محمود خپل فعالیت په ختیځ، مرکز او جنوب کې پیل کړ، هغه د خپل سلطنت په پیل کې په ډیره هوښیاري چلند وکړ او له دې څخه یې کلک مخنیوي وکړ چې دده لښکر د یوه سوبمن پوځ په توګه د خلکو په مال او ځان تیری وکړي، بلکې د دوی دننه یې د امنیت ساتل وبلل. همدارنګه ده هغه ایراني مامورین او افسران چې تر پایه صفوي دولت ته وفادار و ونازول او زیاتره یې د دولت په چوکیو پرېښودل خو د دې سر چپه هغه چا چې دولت ته خیانت کړی و، هغو ته یې سزا ورکړه. شاه محمود له اروپایي او کورنیو سوداګرو سره له هڅونې ډک چلند وکړ او هغو ته یې آسانتیا برابرې کړې. هغه په اداره کې ساده والی دود کړ، بې نظمي بلهې اخیستل او د مامورینو د خپلسري مخه یې ونیوله. په دې توګه په څو میاشتو کې د شاه محمود د عدل او اداري نوم په ټول ایران کې خپور شو او دې خبرې خلکو ته هیلې پیدا کړې.

خو دغه چلند ډیر دوام ونه کړ، ډیر ژر حالات بدل شول، دا څکه چې له یوې خوا د شاه محمود روغتیا خرابه شوه، د هغه قوي طبع په عصبانیت بدله شوه او له بلې خوا داسې ډیرې پیښې وشوې چې هغه یې نور هم عصباني کړ. د شاه حسین صفوي زوی طهاسب مرزا یوشمیر سرتیري برابر کړل او د قزوین په ښار کې یې د خپل سلطنت اعلان وکړ. دا په داسې حال کې چې کورنۍ یې په اصفهان کې د دولت تر نظر لاندې وه، سره له دې چې شاه محمود د پوځ په ورلیږلو سره د طهاسب عسکر تر آذربایجان پورې وځغلول، خو طهاسب په کرار نه کیناست، هغه د روس او عثماني دولت ته سوال وکړ او د شاه محمود د له منځه وړلو او د ایران د تخت او تاج د ترلاسه کولو هڅه یې کوله او د هغوی په نظامي مرستو سره یې د ایران په لویدیځ او شمال کې ډیر ځایونه ونیول، په داسې حال کې چې په روسیه کې د شاه محمود معاصر د روسیې تر ټولو ځواکمن پاچا رومانوف (د پتر له لړۍ څخه) و (۱۷۲۲-۱۷۸۹) چې د هغه پر مهال لویه روسیه جوړه او د نړۍ په لویو هیوادو کې وشمیرل شوه. په عین وخت کې د قزوین خلکو پاڅون وکړ او د شپې له خوا د هغه ځای پر افغانانو ورغلل او ډیر یې ووژل. دغو ټولو پیښو د شاه

Scanned by CamScanner

محمود پر عصبي ناروغی بده اغیزه وکړه او نور نو هغه نه پیژندل کید او په افغاني او ایراني بدګمان شوی و دده همدا بدګماني د دربار د لویو خلکو د ویرې لامل شوه. د بیلګې په توګه دوو افغاني تورن سردارانو هر یوه میراشرف او امان الله له خپلو یومشیر ملګرو سره کندهار ته تیښته وکړه. نور پاتې افغانی افسران او مامورین په ویره او ناهیلی کی ډوب شول او د شاه محمود په دغه لیوني ډوله حرکتونو ډیر خپه وو. په دې حالت کې شاه محمود په ۱۷۲۴ کې د لویدیځ خوا ته یو لښکر ولیږ او د عجم او عراق یوه برخه یې د عثماني دولت له واک څخه وژغورله خو په دې ترځ کی شاه محمود په خپل نظامي ضعف باندي پوه شو. نو د خپل بوځ د پیاوړي کولو لپاره یې په لیکلی بڼه له شاه اشرف او امان الله څخه وغوښتل چې له مرستندویه ځواکونو سره یوځای له کندهار څخه اصفهان ته راشي او هغه یواځی پرې نه ږدي، کله چې نومړی دوه سرداران بیرته ورغلل نو پاچا ځواکمن او زړور شو نو ظلم یې هم زیات کړ، په تیره بیا کله یې چې په یزد کی یوشمیر جنګی عملیات وکړل، خو له ناکامي سره مخامخ شو نو د هغه عصبی هیجان زیات او له غوسې وخوټید، نو په دې توګه یې له ټولو افغانی او ایرانی مامورینو سره ډیر کلک چلند پیل کړ، دا چې اردو د هغه په وړاندې پاڅون ونه کړ هغه د میراشرف د موجودیت له امله و، دا ځکه چی کله چې میراشرف بیرته له کندهار څخه راستون شو، نو د افغانی سپاهیانو په ټینګار د اردو سپهسالار وټاکل شو نو ځکه هغه په لښکر کې محبوبیت درلود. له همدی امله هم هغه خلکو ته ګران و چې هغه قوم ته د خدمت په خاطر د خپل پلار (میرعبدالعزیز) ونیه هیزاکړ او د شاه محمود تر توغ لاندې یې په زړورتیا سره خدمت وکړ.

له دې څخه وروسته (۱۷۲۴) د شاه محمود عصبانیت زیاتید، آن دا چې یو مهال یې ځان په یوه تیاره کوټه کی بندی او له خلکو څخه جلا شو، دوه میاشتی وروسته چې له انزوا څخه راووت بیخی د پیژندلو نه و. د هغه هیجان دومره زیات شوی و همدا چې خبر شو چې د شاه حسین صفوي یو اولاد د تښتیدو هڅه کړی، پرته له شاه حسین څخه او پرته د هغه له دوو ډیرو کوچنیو اولادونو څخه د هغه نور ټول اولادونه یې ووژل، خو کله یې چې شاه حسین مخامخ ولید هوښ یې سرته راغی او ډیر پښیمانه شو، خو ګټه یې نه لرله.

شاه محمود مخکی هم خو تنه ایرانی مشران بی سببه وژلی وو. د شاه محمود ناروغی زیاته شوه چې په پای کې فلج او بیا بستری شو او په ۱۷۲۵ کی (د روسیې د باچا پتر د مړینی په کال) په ۲۸ کنی کې مړ شو. خو خلکو داسې آوازه واچوله چې میراشرف هغه د ناروغي په بستر کې د خپل پلار په کسات کی مړ کړ. کله چې دغه آوازه کندهار ته ورسیده، د کندهار والي میرحسین ماتم جوړ کړ او میراشرف یې د خپلی کورنی خونی دښمن وباله. په همدی ۱۷۲۵ کال کې یې ځان د شاه محمد ځای ناستی او د کندهار خپلواک پاچا اعلان کړ. له همدې نیتی وروسته د غلجیو د اشرافو او حکمرانانو ترمنځ نفاق راغی او دوی دوه ډلې شول، په دې توګه ایران له کندهار څخه جلا شو. د دې په پایله کی په ایران کی غلجی دولت له منځه ولاړ. په هر حال؛ د شاه محمود تر مړینې وروسته په اصفهان کی د افغاني مخورو جرګه جوړه شوه او د رایو په یووالي سره یې سپهسالار میراشرف د خپل پاچا په توګه وټاک او د اردو

سپهسالاري نامتو جنرال سیدال خان ناصري ته وسپارل شوه، دغه سړی نه یوازې دا چې یو زړور او تکړه افسرو، بلکې د زده کړو خاوند او په پښتو ژبې کې شاعر هم و.

## د شاه اشرف د سلطنت پر مهال (۱۷۲۹-۱۷۲۵)

وروسته تر دې چې شاه اشرف د ایران پاچا شو، په څرګنده سره په دې باندې پوهید چې افغاني دولت په ایران کې د پرځیدلو له ګواښ سره مخامخ دی، دا ځکه چې یوشمیر بهرني ځواکمن نور دولتونه لکه عثماني ترکیه او روسیه د ایران دولت له ضعف او د طهماسب شاه له مرستې غوښتنې غلطه استفاده کوي او د هیواد په شمال او لویدیځ کې وراندې راغلي دي. شاه طهماسب چې د اصفهان له سقوط او شاه محمود افغاني ته د دده د پلار له تسلیم کیدو څخه وروسته په ۱۷۲۲ کې په دې بریالی شو چې له اصفهان څخه روغ ووځي. له دې امله چې د پلار ولیعهد و، نو ځان یې د پاچا په توګه د ایران ملت ته وروپیژاند او له ملت څخه یې دا وغوښتل چې د تاج او تخت د نیولو لپاره له ده سره نظامي مرستې وکړي، خو په عمومي توګه د ایران ملت له ده سره مرسته ونه کړه، دا ځکه چې خلکو له صفوي دولت څخه له ناخوالو ډک زړه درلود.

طهماسب چې د خپلو خلکو له مرستو څخه ناهیلی شو، نو تاج او تخت ته د رسیدلو لپاره یې بهرنیو دولتونو ته مخ واړاو او له هر یوه سره یې یوه ژمنه وکړه او د ایران ولایتونه یې لکه د خپل شخصي ملکیت په شان د پلورلو لپاره وړاندې کړل، د دغو پلورلو بیه یې له ایران څخه د افغانانو ایستل او خانته د سلطنت ترلاسه کول وټاکله. طهماسب په دغو ژمنو کې د ایران لویدیز ولایتونه عثماني دولت ته ور پرېښودل او هغوی په ډیره بیړه په نظامي قوت سره همدان، ایروان او تبریز ونیول، خو د تبریز خلکو په ډیر زړور توب دفاع وکړه او له ماتې څخه وروسته یې هم غاړه سپکاوي ته نه کیښوده، د دې پرځای له دغه ښار څخه ووتل او نورو سیمو ته یې هجرت وکړ. له بلې خوا د ترکیې او روسیې دولتونه د ایران د ویشلو په سر په خپل منځ کې پریکړې ته ورسیدل. شاه طهماسب په دغه قرار داد کې چې له ترکیې سره یې وکړ (چې یو ختیځ هیواد و) بسته ونه کړه، بلکې د روسیې هیواد ته یې هم مخ واړاو او د ایران یوه برخه یې هغه ته وړاندې کړه او له هغوی څخه یې وغوښتل چې افغانان له ایران څخه وکاږي. د هغه استازي اسمعیل بیګ د ۱۷۲۳ کال د سپتمبر په دولسمه نیټه پلازمینه پتروګراد کې د ایران او روسیې ترمنځ لومړنی ژمنه لاسلیک کړه، د دغې ژمنې او معاهدې دوهمه ماده داسې وه:

«اعلیحضرت شاه (طهماسب) د دربند او باکو ښارونه له هغو ټولو ځمکو او نورو ځایونو سره یوځای چې دغو دوو ښارونو پورې تړلي دي او د خزر د سیند غاړې دي، او همدارنګه د ګیلان، ما زندران او استرآباد ایالتونه د دایمي تصرف او نیولو په خاطر د ټولې سراسري روسیې اعلیحضرت امپراتور (پتر) ته ورکوي؛ او دغه ټولې سیمې به له همدا اوس څخه ترتل پورې د سراسري روسیې اعلیحضرت

امپراتور پورى اړه پيدا کوي او د هغه په تابعيت کى به وي...»[۱]
د روسيې دولت چې نوى پر دولسم شارل بريالى شو او په دغه دښمن باندې د برياليتوب له امله غره شوى و. دربند، درشت او باکويې هم ونيول. په دې توګه د ايران هوتکي دولت د ايران د ننه په شمال او لويديزو سنګرونو کې د نيزې د څوکو له يو ديوال سره مخامخ شو چې د هغه مهال دوو ستړو امپراتوريو ايسار کړى و او د جنوب له خوا په سمندر سره ايسار شوى و، خو خپله يې سمندري ځواکونه درلودل، خو په ختيځ کې له سيستان څخه تر اوسني خراسان پورې د ملک محمد خان سيستانى يو خپلواک دولت و چې په ايران کى يې له افغانى هوتکى دولت سره هيڅ ډول مرستې نه کولې چې د هغه ترشا د هرات خپلواک ابدالي دولت ولاړ و، خو دغه ابدالي دولت بيا له هوتکى دولت سره مخالف و. د بلوچستان ولايت هم څه نا څه د کندهار هوتکى حکومت تر اغيزې لاندې و، خو دغه دولت په ايران کى د شاه محمود له منځه تلو وروسته د هوتکى دولت په خوني دښمن بدل شوى و، يواځې دا نه، بلکې په د ننه کى هم ستونزې پيدا شوى وې چې د دغو ستونزو او تپونو رغول ناشوني وو. د ايران ښارونه د شاه محمود له شديد فشار څخه خوښ نه وو، او يوشمير سيمه ييز فيوډالان چې خپلې شخصى ګټې يې له لاسه وکړي وې او دولت سره په سازش کولو کې ناکام شوى و، د پاڅون او فرصت په کمين کې ناست و و. تر ټولو مهمه دا چې په خپله دولت او د هغه په واک کى سورې پيدا شوى وو، د شاه محمود له وفات وروسته، د ايران او کندهار د غلجيو ترمنځ يو کلک نفاق او ګونډيتوب (ګونډيماري) پيدا شوې وه، حال دا چى دولت تر ډيره پورى د همدوى په اوږو ډډه لګولې. کندهار کى شاه حسين په شاه اشرف باندې لاره وتړله چې مرسته ور ونه رسيږي، په دې توګه شاه اشرف خپل ملاتړ له لاسه ورکړ.

په دى حال کې دولت د د ننيو او بهرنيو دښمنانو ترمنځ د داسې يوې کيږدۍ بڼه غوره کړه چى مراندې يې ټولې غوڅې شوې وې، ياپې هم د يوې داسې بيړۍ بڼه غوره کړى وه چى په هغى کى د خوراک او اړتيا نور هر څه ختم شوي وى، په دغه ډول شرايطو کې له يوې خوا د ايران په د ننه کى يوشمير ځيرو لکه شاه طهاسب د صفى مرزا او د سلطان محمد يو پر بل پسې سرونه راپورته کول او وسله وال ځواکونه يې جوړول، له بلي خوا د شاه محمود پلوي غلجى له شاه اشرف څخه جلا شول او کندهار ته راغلل. آن داسې هم ويل کيدل چې زړور او سوبمن سردار امان الله هم له دښمن (شاه طهاسب) سره د شاه اشرف پرضد خبرى پيل کړې وې. همدارنګه د ترکيې د يرغل ګواښ او د روسيې له دولت څخه ويره هم مخ په زياتيدو وه، همدغو شرايطو د ايران د هوتکيانو او شاه اشرف واقعى ارزښت ټاکه. شاه اشرف د دغو ټولو ډيرو بدو پيښو او ناخوالو سره سره زړه نه بايلو او هوډمن وو چې په خپلو ټولو ځواکونو سره به د کورنيو او بهرنيو ستونزو په وړاندې دريږي. په دې توګه يې د خپل دولت د ننه د شاه محمود د اشتباهاتو د جبران کولو لپاره ملا وتړله او د سياسى وژل شويو کسانو کورنيو ته يې ډاډ ګيرنه ورکړه او مصادره شويو ته يې تاوان ورکړ او د صفوى کورنۍ د وژل شويو غړو مړي يې بيا په ډير درناوي سره

---

[۱] – تاريخ سياسى و اجتماعى ايران، د ايرانى دانشمند سعيد نفيسى تاليف، د ۱۳۳۵ل. کال چاپ ۲۹۵-۹۲ مخونه.

خبن کړل. کار پوهو ایرانیانو ته یې دندې وسپارلې او له خلکو سره یې لطف او نرمي وکړه. د دې په وړاندې یې شورشي دوه تنه لکه صفي مرزا او سلطان محمد چې یوه یې په پارس کې د ایران په پاچاهي دعوا کوله او بل یې په بندرونو او بلوچستان کې ځان د صفوي کورنۍ وارث باله، دواړه د خپل نظامي افسر زبر دست خان په لاس له منځه یوړل، یزد او کرمان یې هم بیرته ونیول. دده سپه سالار سیدال ناصري قزوین وروسته تر اړ-دوړ څخه بیرته تابع کړ او شاه طهاسب چې لښکر جوړ کړی و، هغه یې د تهران خوا کې له ماتې سره مخامخ کړ. تهران، قم او ساوه ټول تسلیم شول. شاه اشرف د مرکزي واک په ټینګولو دومره هڅې وکړې چې آن خپل ډیر کاري سردار او خپل نژدې خپلوان یې هم له شاه طهاسب سره د اړیکو په شک کې وواژه خو دده دغه کار دده غلجي نور مخالفین لاهم په غوسه کړل.

شاه اشرف د دغو کورنیو چارو په ترڅ کې په ډیر دقت سره د عثماني دولت او د روسیې ټول حرکات څارل، له دې امله چې د اوږدو کورنیو جګړو په ترڅ کې د شاه اشرف عسکري ځواک کم شوی و او له ایران سره د اړیکو پرې کیدو د دغه نظامي کمښت نشو پوره کولای، نو ځکه هغه اړو چې خپل دغه کم قوت سره ګوزاره وکړي او په بیلابیلو پیښو کې یې هم هڅه کوله چې کارونه په تدبیر او سیاست سره پرمخ بوځي او د وسلې کارولو ته اړتیا پیښه نشي، نو ځکه یې په ۱۷۲۲کې د ترک دولت د یوه سفیر (عبدالعزیز) او لیک په واسطه د دوستی او اسلامی او مذهبي ورورولي له لارې په درناوي سره روابط پیل کړل او د مطاع اسلامي خلافت خبره یې ورسره شریکه کړه او په دې ترڅ کې یې د ایران له لویدیزو ولایتو څخه د عثماني لښکرو د ایستلو غوښتنه هم وکړه، خو د ترک دولت نه یوازې دا چې دغه وړاندیز ته پاملرنه ونه کړه، بلکې شاه اشرف ته یې دا وړاندیز وکړ چې ایران پریږدي او د شاه حسین صفوي تخت ورکړي. د ترک دغه وړاندیز له لویو نظامي سوقیاتو سره مل و او د بغداد د والي احمد پشا، د موصل د والي حسین پاشا او د جنرال عبدالرحمن تر قوماندانۍ لاندې یې یو لښکر چې هغه کې شپیته زره سپاره او پلي سرتیري او اویا لوی توپونه وو، د اصفهان په لوري را روان کړ.

شاه اشرف چې په یوه پریکنده دریځ کې راغلی و، نو شاه حسین صفوي یې بې ضرورته مړ کړ او له یو کوچنی خو کلک افغاني لښکر سره د ترک د لښکر په وړاندې ورغی. دواړه لښکر په ۱۷۲۲کال کې د اصفهان او یزد ترمنځ سره مخامخ شول. دغه جګړه چې د تاریخ په ترڅ کې د لومړی ځل لپاره د ترک او افغان دولتونو ترمنځ پیښه شوه، هوتکي دولت ته د مرګ او ژوند اهمیت درلود. دا ځکه که چیری افغاني لښکر مات شوی وای نو بیایې جبران کول نا ممکن و، خو د ترک لښکر شا ته پیاوړی ملاتړ درلود. جګړه پیل شوه. د افغانانو د سپرو د لښکر د بریښنا په شان یرغلونو دغه لوی قوت مات کړ. عثماني توپچي خپل پنځوس توپونه له لاسه ورکړل. د ترک پلیو او سپرو سرتیرو څخه دوه لس زره یې د جګړې په ډګرکی ووژل شول او نور یې وتښتیدل. دغه ماتې دومره په بیړه او ناڅاپي وه چې د ترک د لښکر ټول وسایل پرځای پاتې شول.

شاه اشرف ددې لوی بري سره سره بیا هم تدبیر له لاسه ورنه کړ او پرته له وسلو څخه نور وسایل یې بیرته د ترک د مات شوي لښکر پسی بیرته ترکیې ته ورولیږل او بیایې د اسمعیل په نوم یو سفیر په ۱۷۲۸

Scanned by CamScanner

کی د ترک دولت ته ولیږ او د هغه په لاس یې دا پیغام ورواستاو چې مونږ له ترکانو سره د یو دین ورونه یو او د مسلمانو ورونو مال پرمونږ باندی حرام دی. مونږ د اسلامي خلافت درناوی په خپل ځان باندې واجب بولو. له خپلو ترک ورونو سره جګړه نه، بلکې دایمی سوله غواړو. د سوبمن شاه اشرف دغه یوناڅاپی عجیب چلند له هغه عملی نمایش سره یوځای چې د افغانانو له نظامی قدرت څخه یې ورکړی و، د ترک د دولت پر سیاست یې دومره اغیزه وکړه چې هغوی د ایران د دولت او د اصفهان د حکومت د نیولو له دعوا څخه بیخی تېر شول او په دې پسې یې بیا په ۱۷۲۸ کی خپل سفیر د راشد پاشا په نوم د ایران هوتکی دولت ته ولیږ او دغه دولت یې په رسمیت وپېژاند او د سولې وړاندیز یې وکړ او بیا معاهده یې هم ورسره وکړه. شاه اشرف چې تر ټولو زیات د افغانی دولت موقعیت او د هغه کلابندۍ شوي بنه باندې ډېر بنه پوهید، نه یې شو کولای چې سمدلاسه د ایران د پخوانیو ځمکو د بېرته اخیستلو په خاطر بله دعوا هم وکړي. نو ځکه یې د ترک دولت د روغی-جوړې د معاهدې وړاندیز ومانه او د اړیکو د بنه ټینګیدو په خاطر یې محمد خان بلوڅ ترکیې ته د خپل سفیر په توګه واستاو. دغه نوي اړیکې ددې لامل شوې چې یو ۱۲ تو کیزه ژمنلیک رامنځته شي چې د هغه له مخې به ترکیه د حج پر مهال ایراني حاجیانو ته یوشمیر آسانتیاوې برابر وې.

په دې تو که شاه اشرف سمدستي خان د لویدیځ له لوري له یرغل کولو څخه ډاډه کړ. شاه اشرف چې نور خپل کاري خلک، سرتیري او افسران په کورنیو جګړو او له ترک سره په سختو جګړو کی له لاسه ورکړي وو، اړشو چې له ایران څخه د نه کسان په کارونو او په لښکرکی وګوماري ترڅو د تلفاتو ځای ډک کړي. سره له دې چې نوموړی په موجوده شرایطو کی د هغو په نه مقاومت کولو ډاډه نه و. خو له دې پرته یې بله لاره نه درلوده. دا ځکه چې شاه اشرف له نظامی پلوه هغه بې پیسو شوی پانګوال ته ورته وچې هیڅ ګټه یې نه درلوده. خو لګښت یې ډیر زیات و. له افغانستان سره د هغه اړیکې پرې شوې وې. هغه لښکر چې ورسره و ورځ په ورځ کمیده. حال دا چې یوشمیر نور ګواښونه او مهم جنګونه یې لا په مخه کی وو. د شاه اشرف په نوي جوړ شوي لښکر کې زیاتره د ایران کردان ومنل شول. خو وروسته بیا په هغه جګړه کې چې له نادر افشار سره وشوې، په هغو کې د شاه اشرف ایرانی سرتیرو د نادر افشار په وړاندې جګړه ونه کړه. بلکې د جګړې ډګر یې پرېښود.

شاه اشرف خپل لښکر د بل نوی کورني مخالف قوت (نادر افشار) د ماتولو په خاطر وسانه سمدستي یې پرېښودل چې نادر افشار. شاه طهماسب او فتح علی خان قاجار د اوسني خراسان پر لایت یرغل وکړي. په خپله یې د روس دولت ته پام واړاو چې د ایران په شمال واکمن و او له شاه طهماسب سره یې د کړي ژمني له مخې خان د ایران د یوې زیاتي برخی خاوند باله. هغه جګړه چې د (رود سر) په سیمه کې د سیدال خان او جنرال (ارلوف) ترمنځ وشوه. افغاني لښکر بریالی شو او ارلوف د سولې غوښتونکی شو. شاه اشرف له روسیې سره د سیاسی خبرو اترو له لارې پرمخ ولاړ او په ۱۷۲۹ کال کی یې له هغه دولت سره یو معاهده وکړه چې د شاه طهماسب د معاهدې ډیره درنه برخه یې سپکه کړه. دغه معاهده د ۱۷۲۹ کال په فبروری کې د رشت په ښار کې د شاه اشرف او د روس د امپراتورۍ د استازیو ترمنځ

لاسلیک شوه چې په لاندې توګه وه:

«د مهربان او بښونکي متعال خدای په نامه لاندني موافقه لیک اعلانیږي له دې امله چې د سراسري روسیې پیاوړي پاچا دوهم پتر اعلیحضرت امپراتور او نور نور نور چې د خزر د سیند او د سیند د غاړو ولایتونو، بل طرف ته یعني په ایران کې د اصفهان سعادتمند پاچا او د ډیرو ځمکو خاوند او نور، او نور او نور[1] چې یو بل سره ګاوندیان دي د متعال خدای په اراده د هغو نظامي پېښو د مخنیوي لپاره او د وسلې د نه استعمال په خاطر یو «سپیڅلی یووالی» رامنځته کوي. د دې لپاره استازي ټاکل شول: د سراسري روسیې د پیاوړي پاچا او نور او نور دوهم پتر اعلحضرت امپراتور له خوا عالیجناب ښاغلی سرلښکر واسیلي لیواچوف د سنت الکزاندر د نښان لرونکی او په ګیلان کې د ټولې روسیې د لښکر قوماندان او به دارالمرز کې د خزر د سمندر د غاړو د ولایتونو واکمن او د اصفهان د ډیر سعاتمند پاچا او ډیرو ځمکو لرونکي او نور او نور او نور له خوا پیاوړي سپهسالار ډیر درونند محمد سیدال خان بیګلر بیګی او ډیر درانه مستوفي علي خاصه مرزا محمد اسمعیل، عمر سلطان او جاجي ابراهیم چې په دربار کې د معظم دولت د دربار او د هیوادونو او د هغو د اتباعو ترمنځ په یووالي سره حقیقي او دایمي یووالي مفید بولي، د دوستۍ دغه ژمنلیک د تل لپاره د لاندینو مواد په لرلو سره ترسره کیږي:

۱. ټولې ځمکې او ښارونه د هغو له ټولو متعلقاتو سره چې په ایران کې د دواړو طرفینو معظمینو ترمنځ ضمیمه شوي دي، که له دې سرحد څخه مخکې کوم ځایونه وو او یا هم کوم چې په دې وروستیو کې د پولو په توګه ټاکل شوي دي، په هماغه ترتیب سره چې په دریمه ماده کې اعلان شوي دي، تل ترتله پورې به د دواړو معظمینو په واک کې وي.

۲. د سراسري روسیې اعلیحضرت امپراتور د خپل معظم دولت له لوري دا اراده کړې ده چې: د استرآباد او مازندران ایالتونه چې ساحلي ولایتونه دي د هغې پخوانۍ دوستۍ له امله چې د روسیې امپراتور یې له ایران سره لري، ایران ته ورپریږدي، خو په دې شرط چې په حتمي توګه به دغه ولایتونه په هیڅ ډول سره کوم بل هیواد ته نه ور پرېښودل کیږي خو که دغه شرط ته پاملرنه ونشي دغه ایالتونه متعلقاتو سره بیرته د تل لپاره او په نه تجزیه کیدونکې توګه د روسیې په امپراتوري پوري وتړل شي او دغه قرارداد به له منځه ولاړ شي.

۳. د دواړو لوریو پوله (سرحد) به د هغوی د پخوانیو متعلقاتو، ښارونو او ځمکو سره په لاندې ډول وي... (په همدغه ماده کې د روسیې او ایران ترمنځ د پولو پوره تفصیل راغلی و).

۴. د پخوا په شان به سفیران او مختار وزیران او هغه کسان به چې له دواړو لوریو څخه ټاکل او رالیږل کیږي، د هغوی د تلو راتلو په هکله به مخکې ترمخکې فرمان ورکول او دواړه لوري به خبریږي او د هغوی په درناوي سره او په دوستانه ډول د راتلو او د هغوی د هوساینې لارې به سنجول کیږي او هغوی ته به ښه راغلاست ویل کیږي او په آسایش کې به ساتل کیږي او وروسته د هغو کارونو له ترسره

---

[1]– دغې موافقتنامه کې لنلیز راوستل شوی. پخوا به عادي لیکونو او هم به دیپلوماتیکو لیکنوکې اوږده القاب معمول وو .ژ.

Scanned by CamScanner

بیرته به خپلو هیوادونو ته ستنیږي.
کولو څخه به چې دوی ته سپارل شوي دي

۵. د معظمینو طرفینو دوستانه لیکونه به د اوسنیو القابو په لرلو سره اعتبار لري او که چیرې له دواړو لوریو څخه معظمین مالکین اراده وکړي چې په خپلو عالي القابو کې کوم بل اضافه شوی لقب په کار یوسي، نو دغه کار باید پوخ بنسټ ولري او له دواړو لوریو څخه یو یې هم حق نه لري چې د دغه ځمکو عنوان چې ویشل کیږي په خپل لقب کې ور اضافه کړي او نه به هم نوی سکه کونډه کوي.

۶. هغه شخړې او دښمنۍ چې په پولو کې به د بیلابیلو طبقاتو په منځ کې پیښیږي، هغه فرمان ورکوونکي چې تاکل شوي دي، د هغه سپیڅلي سولې او دوستۍ د ساتنې لپاره چې اوس ټینګه ده په ښه نیت او پوره دقت سره به ناوړه پیښه پرې او له منځه وړي ترڅو د دواړو لوریو سپیڅلي اتحاد په خپل ځای پاتې وي او رعیت په هوساینه او آرامش کې ژوند وکړي او په دغه کار کې باید دواړه لوري په ډیر دقت او احتیاط سره چلند وکړي.

۷. که چیرې له یوه لوري څخه بل لوري ته، له بیلابیلو طبقاتو څخه یو شمیر خلک ورو تښتي، دواړه لوري به فراریان د هغوی له کورنۍ او ټولې شتمنۍ سره بل لوري ته بیرته ورسپاري او هیڅوک حق نه لري چې دا جسارت وکړي او بیا هغه تر ملاتړ او حمایت لاندې راوستل شي.

۸. د دواړو خواوو د آزادۍ او بې خنډه سوداګرۍ د ګټې په خاطر به دواړو لوري له ځمکو او له رعیت او یا هم د هغوی د سیمو له اوسیدونکو څخه په وچه او سمندرو کې معمولي مالیات د پخواني دود-دستور او حقوقو سره سم. پرته له دې چې کوم زیاتوالی په کې راوستل شي، اخلي. او باید حق ولري پرته له هر ډول خنډ څخه د خپلو اجناسو راکړې ورکړې ته دوام ورکړي. د روسیې اتباع حق لري چې د ایران په ټولو سیمو او یالتونو کې له سوداګرۍ څخه ګټه واخلي او د خپلو اوسیدونکو او د خپلو اجناسو، کور، کاروانونو، پړاوونو لپاره ځایونه جوړ کړي، همدې ډول ولري او دا حق لري چې د خپلې سوداګرۍ او کاروانونو د لیږدولو لپاره د ایران له لارې څخه هندوستان او نورو سیمو او هیوادونو ته تګ راتګ وکړي او په دې برخه کې آزاد او بې خطره وي او همدارنګه د ایران اتباع هم متقابلاً حق لري چې په روسیه یا بل هر ځای کې چې وغواړي واوسیږي او په سوداګرۍ او سفرونو کې خپلواک اوسي.

۹. که چیرې د یوه هیواد یو سوداګر په بل هیواد کې ومري، د هغه همدې، مالونه کور، زیرمې، کاروانونه او شتمنۍ به بې له زیان څخه امانت ساتل کیږي او بې له کوم عیب او نقص څخه به د هغه قانوني وارث ته ورکول کیږي یا به هغه چا ته وسپارل شي چې د معظمو دربارونو له خوا ورپیژندل کیږي او یا هم کومه اداره په لیکلې بڼه د دغو مالونو او شتمنۍ د ترلاسه کولو لپاره ور وپیژندل شي.

۱۰. دغه خدا خوښوونکې ژمنې یا د سپیڅلې دوستۍ او اتحاد تعهد لیک له خپل ټول اعتبار او ګټو سره تل ترتله او بې نقص او خلل څخه ساتل کیږي او تصویب کیږي او په مهر به ښکلې شي او دوو نسخو کې به مبادله شي او د سولې د دغې ژمنې د تائید لپاره دوه نسخې چې کټ مټ یو شی وي د دواړو لوریو له خوا جوړې شوي دي. او د مخکې ذکر شویو خپلواکو استازیو لاسلیکونه پکې شته چې هغوی آزاد او د بشپړ اختیار لرونکي دي او د هغوی په مهر سره تصدیق شوي دي او یو بل سره مبادله

Scanned by CamScanner

شوي دي د ګیلان د رشت ښار د الهی ۱۷۲۹ کال د فوریه ۱۳مه.(۱)
سره له دی چې د شاه اشرف او امپراتور دغی معاهدې د ایران بشپړوالی نه و ډاډ من کړی. خو د شاه طهاسب د هغی معاهدې په پرتله چې په ۱۷۲۳ کی د سپتمبر په ۱۲مه لاسلیک شوی وه یو ګام مخکی وه، دا ځکه چې د طهاسب په معاهده کې دربند او باکو ښارونه د هغو له ټولو ځمکو د خزر د سمندر غاړې، د ګیلان، مازندران او استرآباد ولایتونه د روسیې دولت ته ورکړل شوی وو. د روسیې دولت وروسته ترهغه چې د ترک د دولت ماتې د افغان دولت په لاس ولیدله او په منځنی آسیا کی یې خپل نوی دریځ وسنجاو. له شاه اشرف سره په دغه ډول معاهده راضی او د مازندران او استرآباد له ولایتونو څخه لاس په سر شو. په هر حال؛ شاه اشرف وروسته د دغې معاهدې له منلو څخه د لنډ وخت لپاره د روس د دولت له لوري ډاډه شو، نو ځکه یې کورنیو دښمنانو ته پام واړاو، خو وخت تیرو، ځکه چې تر دې مهال پورې د منځنی آسیا د جنګی سردارانو له ډلې څخه یوه نامتو یې خپل نظامی تشکیلات جوړ کړی وو او نادر افشار د شاه طهاسب صفوي د سپهسالار په توګه په ۱۷۲۷ کې راڅرګند شو او له ملک محمود سیستاني څخه یې د توري په زور سیستان او د اوسنی خراسان ولایت ونیو او په نیشاپور کی یې دری زره افغانی مدافعین وژلي وو. همدارنګه نوموړي په ۱۷۲۹ کې د څو جګړو په ترځ کې د هرات ابدالي حکومت له سیالی او نظامی ډګر څخه لری کړ.

## د ایران تشول

له نظامی پلوه د شاه اشرف وضعیت له نادر شاه سره ډیر توپیر درلود. نادر افشار چې یو قابل سړی و، مخکی له دې چې سوبمنو جنګیالیو سره مخامخ شی، لومړي یې د افغانستان لویدیځ ولایتونه (سیستان او اوسنی خراسان) ونیول. په هرات کی یې هم وروسته تر ډیرو جګړو دا احساس کړه چې ابدالي حکومت د خپل قومی تضاد او سیالي له امله دا غواړي چې په ایران کی هوتکي دولت وشړل شي. آن دا چې د هرات حکومت دښمن ته د هرات د تسلیم کولو په خاطر د ایران د هوتکی دولت باندی د نادر افشار د بریالیتوب شرط کیښود. همدارنګه د کندهار د هوتکی حکومت، د نادر افشار په لاس باندې د شاه اشرف او د هغه د دولت پرځیدلو ته دوه سترګی څلور وی وې. په دې توګه شاه اشرف له خپل کوچني او ستړی ستومانه پوځ سره چې څو څو کاله یې له کورنیو او بهرنیو دښمنانو سره په جګړو کی تیر کړي وو، د نادر افشار له لوی قوت سره مخامخ و. د ایران بزګران هم چې نور له پرله پسي جګړو څخه ستومانه وو او د لښکریانو د جګړو تاوانونو او سور ساتونو له کبله یې ملاوې ماتې شوی وې، د ایران د یوه مرکزی دولت د جوړیدو غوښتونکي وو، چې اوس یې په سرکی نادر افشار و. افشار چې په هرات او اوسني خراسان کې د افغانانو له جګړو سره بلد شوی و په افغانانو باندی یې د بریالیتوب په خاطر توپچی ځواک ډیره ښه وسله ګڼله، نو ځکه یې تر هر څه مخکی په خپل لښکر کی منظم لوی

---

(۱)- له «تاریخ سیاسی و اجتماعی ایران» څخه نقل. د ایران دانشمند سعید نفیسی تألیف د ۱۳۳۵ش- کال چاپ.

Scanned by CamScanner

توپچی کنډک جوړ کړ او دغه منظم توپچی د لسو تنو فرانسوي توپچی افسرانو تر لارښوونې لاندې اداره کیدل.

شاه اشرف په ۱۷۲۹ کې چې نوی د کورنیو او بهرنیو اړ-دوړ او د ایران د ننه نیول شویو سیمو له شخړو څخه وزګار شوی و. سره له دې چې خپله کلابندي یې له هر لوري څخه، په تیره بیا له افغانستان له خوا څخه احساس کوله، نو د کارونو د یو اړخیز کولو په خاطر یې په خپله د افغانستان د لویدیځ په لور لښکر راوست او سمنان یې کلابند کړ. نادر افشار په بیړه له هرات څخه راغی. لابسطام ته نه و رسیدلی چې سپهسالار سیدال ناصري د شپې له خوا د هغه پر توپچی ګوزارونه وکړل. خو د پریکنده پایلې له ترلاسه کولو پرته بیرته ستون شو. شاه اشرف هم سمنان پریښود او د نادر مخې ته ورغی. د (مهماندوست) په سیمه کې د دوی ترمنځ شخړه ونښته او افغانی جنګیالو د دښمن په پوځ یرغل وکړ. خو د نادر توپچی د دوی سرتیری لکه د پاڼو په شان ریژول. د جګړې په ترخ کی د شاه اشرف د پوځ ټولو ایرانی سرتیرو د جګړې ډګر پریښود. په دی توګه ذ پریکنده ماتي له ګواښ سره مخامخ شول. شاه اشرف خپل کوچنی او تپی پوځ سره راټول کړ، د (ورامین) په خوا پرشا ولاړل. دلته شاه اشرف یوځل بیا ځان د دښمن په وړاندې جګړې ته چمتو کړ. د تهران والي اسلام خان توخي هم دده مرستې ته راورسید. شاه اشرف له خپلو پنځه زره سرتیرو سره په (سردره خوار) کې لښکر کوټ جوړ کړ.

نادر افشار چې په خپل دښمن بریالی شوی و، ځند یې ونه کړ او هغه یې نور هم پسې واخیست دغه جګړه چی په دغه سیمه کی وشوه، سره له دې چې په پیل کی سیدال خان ناصری او اسلام خان د نادر افشار د پوځ دوه اړخونه وټکول، او نژدی و چې نادر ته ماتې ورکړي، خو د نادر پوځ په خپله دده په مشرتوب رامخکی شو او افغانی پوځ یې د توپچی تر اورلاندې له ماتې سره مخامخ کړ. دا ځکه چې د افغاني ځواکونو توپچی ډیر لږ او ضعیف و. شاه اشرف مجبور شو چی اصفهان ته په شا لاړ شي خو مخکی له مخکی یې په ورامین کې هغه توپ له کاره وغورځاو چی ورسره و، دا ځکه چی د دښمن لاس ته ونه لویږي. کله چې شاه اشرف اصفهان ته ورسید، خپل ځواکونه یې نوی کړل له ۲۴ زره ګډوډ سرتیرو سره را وګرځید او د (مورچه خورت) په سیمه کی یې د نادر مخه ونیوله. د هغه زیات شمیر سرتیری یا کردان یا ترکان وو. نو له دې امله چي دا یوه پریکنده جګړه وه، نو په خپله شاه اشرف او د هغه افغانی سرتیری به ډیر زړور توب جنګیدل او افغاني ځواکونو دومره مقاومت وکړ چې له دوی ټولو څخه یواځی یو زر او څو سوه تنه ژوندي پاتی شول او د جګړې په ډګر کی یې څلور زره تنه ووژل شول، خو له افغانانو څخه پرته نور سرتیري ټول وتښتیدل، نور نو شاه اشرف د جګړې ډګر پریښود، لومړی اصفهان ته او بیا شیراز ته ولاړ. دې پسی وروسته نادر افشار اصفهان ته ننوت، هر هغه افغان چی هلته پاتی و، هر یو یې وواژه. نادر څلویښت ورځی نور په پلازمینه کې تیرې کړې. کله چی ټول ایران د اصفهان له ماتې څخه خبر شو، ټول سره راټول شول، دا مهال نادر افشار مخ به شیراز روان شو. دا مهال شاه اشرف له خپل دولس زریز کوچني لښکر او د شیراز لښکر کوټ سره یوځای د داسې یوه ټاپو بڼه غوره کړې وه چې له څلورو خواوو سمندر ایساره کړی وي، د نادر د پوځ سیلاب هم په دی ټاپو راغی.

شاه اشرف او د هغه افغاني لښکرو یو ځل بیا د وروستي ځل لپاره جګړه پیل کړه او د زرغان په سیمه کې یې د دښمن د لښکر مخه ونیوله. خو ډیر ژر له پښو وغورځیدل شاه اشرف د شیراز ښار ته ننوت. خو له دې امله چې حرم یې په قزوین کې د دښمن تر کلابندۍ لاندې و. نو د سیدال سپهسالار او ملا زعفران په واسطه یې د نادر له اردو سره خبرې اترې پیل کړې. نادر د صفوي کورنۍ د بندیانو خوشې کول او دښمن ته د تسلیم کیدو شرط ورسره کیښود شاه اشرف د صفوي بندیانو له ډلې څخه دوه ښځې د سیدال خان او ملا زعفران په لاس ور ولیږلې او خبرو اترو ته یې دوام ورکړ. دا مهال دده حرم له قزوین څه شیراز ته راورسیدل. نادر چې د شیراز له کلابندۍ او نور د اوږدو جګړو څخه په اندیښنه کې و نو شاه اشرف سره یې نور څخه کار نه درلود او تمه یې وه چې بې جګړې به ورته تسلیم شي. خو شاه اشرف نه غوښتل چې ژوندي دښمن ته تسلیم شي او خپلو ښځو سره یوځای خان هغوی ته وسپاري. نو کله چې دده حرم را ورسید. نو له دې امله چې پنځلس تنه ښځې د شاه محمود او شاه اشرف د کورنیو وې چې په آسونو باندې د هغو تپولو بیول او په شپه او ورځ مزل کول ډیر ستونزمن کارو. له بلې خوا د دښمن لاس ته د ښځو سپارل د افغاني عنعنې او دود-دستور مخالف کارو. نو هغه ښځې یې چې نشي بیولای ویې غوښتل چې هغوی ووژني. خو په خپل لاس یې دا کار نشو کولای چې د خپلې کورنۍ میندې، خویندې او ښځې د دښمن پرځای ووژني. نو یوه خواجه سرای ته یې دنده وسپارله چې هغه دیارلس تنه ښځې ووژني. یواځې دوه تنه یې له ځان سره کړې او له پاتې دوه سوه افغاني جنګیالیو سره د شپې له خوا له شیراز څخه ووت او مخ په ختیځ روان شو. شاه اشرف چې لیدل چې نادر افشار د شیراز په کمین کې دی نو د صفوي کورنۍ دوه تنه ښځې یې په احتیاطي توګه ورسره بندیانې وې هم له ځان سره د یرغمل په توګه وساتلې. له بلې خوا د نادر لښکر ډیر په بیړه ښار ته ننوت او هغو افغانانو چې دیښتې فرصت یې نه و موندلی لکه ملا زعفران او نامتو میا محمد صدیق (دا سړی د پښتو ژبې شاعر هم و) او څو نور د نادر په لاس ونیول شول همدارنګه هغه خواجه سرای چې د ښځو وژلو ته ګومارل شوی و او تر اوسه پورې یې د شاه اشرف د کورنۍ دوه ښځې او د شاه محمود مور وژلې وه او نورته لا نه وزګار شوی تپول له لسوتنو ښځو سره د دښمن لاس ته ولویدل. نادر افشار د شیراز له نیولو څخه وروسته نارینه بندیان اصفهان ته ولیږل چې هغوی د پلازمینې د اوسیدونکي په وړاندې ووژني، خو کله چې ملا زعفران د یوه پله له سره تیرید ځان یې سیند ته واچاو او ډوب شو. دا ځکه چې غوښتل یې ځان دښمن ته د تسلمیدو له سپکاوي څخه وساتي. نوموړی یو فاضل عالم او ښه شاعر هم و.

شاه اشرف چې ځان له هر لوري څخه له بهرنیو او کورنیو دښمنانو سره مخامخ ولید، لومړی (لار) ته ولاړ. خو له دې امله چې خلکو د نادر له ویرې هغه سره مقاومت وکړ، مخ په سیستان او بم روان شو او ګرمسیر ته ورسید. دده د تره زوی شاه حسین هوتکي له کندهار څخه دده په لټه پسې راووت. په زمینداور او ګرمسیر کې یې ډیر ولټاو. خو شاه اشرف له لاسه وتلی و او مخ په بلوچستان تللی و. شاه حسین هر لوری سپاره وګومارل ترڅو شاه اشرف ونیسي. د سپرو دغه یوه ډله د (زرد کوه) په سیمه کې چې له شورابک څخه لږ کوزه ده د شاه اشرف په څو کسیزه ستړې-ستومانه ډله ور برابره شوه او هغوی

بې کلابند کړل. شاه اشرف او ډلې یې توري راوکښلې او له ځان څخه دفاع ته چمتو شول. د ډلې مشر ابراهیم په شاه اشرف د ټوپک ډز وکړ او هغه یې له پښو وغورځاو بیایې د هغه دوه ښځې له صفوي دوو ښځو سره یوځای ځان سره کندهار ته بوتلې. افغاني نظامي سرداران لکه سیدال ناصري، بابو جان بابي، د لار حاکم، د بندر حاکم او نور چې د دښمن د توري له ګوزارونو څخه ژوندي پاتې وو هم کندهار ته ورغلل او له شاه حسین سره یوځای یې د نادر افشار په وړاندې سنګر ونیو، په پای کې دوه بندیانې صفوي ښځې د خوارلسو تنو هوتکیانو د ژغورنې لامل شوې، دا ځکه چې نادر دې ته حاضر شو چې دغه افغاني بندیان کندهار ته ولیږي او د هغوی پرځای دوه صفوي ښځې ایران ته بوځي. کله چې شاه اشرف له ایران څخه بیرته راغی وروسته تر ۲۰ کورنیو او بهرنیو جګړو څخه له ده سره یوازې یوه زرګسیزه ډله ژوندۍ پاتې وه، دوی د جام په سیمه کې پوره دوه میاشتې د نادر افشار په وړاندې مقاومت وکړ، خو په پای کې تسلیم شول او قزوین ته لاړل او په دې توګه د افغاني غلجي ځواکونو په لاس د ایران نیول په ۱۷۲۹ کې پای ته ورسیدل.

## د کندهار د غلجیو حکومت

خو په کندهار کې د غلجیو د دولت زړئ د یوه سیمه بیز امارت په بڼه همداسې روغ پاتې و، خو ډیر عمر یې ونه کړ. دغه حکومت په ۱۷۳۷ کې د نادر شاه خراساني د شهنشاهي له قوي لښکر سره په یوه کلکه نښته کې وپرځید. مخکې له دې چې نادر په خپله پر کندهار یرغل وکړي یوځل یې د امام ویردي تر مشرۍ لاندې یو لښکر له کرمان څخه بست او ګرشک ته ولیږه. امام ویردي په دې باندې بریالی شو د بست کلا له افغاني ساتونکو څخه ونیسي او بیا یې پر ګرشك ور ودانګل. خو شاه حسین هوتکي پرې نه ښودل او بابو جان بابي ته یې د خپلو ځواکونو په مشرۍ امر وکړ چې استرآباد او بست څخه دفاع وکړي. بابوجان ایراني ځواکونو ته ماتې ورکړه او افغاني بندیان یې له دښمن څخه خلاص کړل. امام ویردي د فراه خوا ته وتښتید. نادر شاه په خپله ۱۷۳۷ کې له یوه ځواکمن اردو او توپچي سره د دلخک او دلارام له لارو څخه ګرشک ته راغی او خپل زوی رضا قلي یې له یوه لښکر سره د بلخ ولایت ته ولیږ. شاه حسین مخکې تر مخکې ښه پوره اندازه غله په کندهار کې زیرمه کړې وه او له بست څخه تر خاکریز پورې یې د نادر شاه په لاره کې غلې-داني له منځه وړي وې چې د دښمن لاس ته ونه لویږي، خو دده دغه کار د بزګرانو د کرکې ور وکرځید.

شاه حسین خپل زوی محمد خان له یوه ځواك سره د کلات د جنګي کلا د ساتلو لپاره وګومارل او بهادر خان یې د زمینداور د ساتنې لپاره هلته واستاو او په خپله یې د کندهار ښار د یوه نظامي استحکام او کلک سنګر په بڼه چمتو کړ او د دښمن د راتګ په تمه شو. نادر شاه د ګرشک نظامي کلا د توپچي په ګوزارونو ویجاړه او هغه یې ونیوله او کلب علي افشار یې د زمینداور د نیولو په خاطر او امام ویردي یې د بست د نیولو لپاره له ډیرو سرتیرو او توپچي سره ولیږل او په خپله له هلمند څخه پورې وت او د شاه مقصود سیمې ته راغی. د نظامي ډلو لپاره یې د غلې-دانې د ټولولو او اندیو ډکولو په خاطر د

هراووت او تیرین ته سرتیري ولیږل وروسته تر هغه د ارغنداب ترغاړې تم شو. شاه حسین چې دا حال ولید، د نادر پر پوځ یې د شپې یرغل وکړ او د هغه ځواکونه یې وځپل او خپله بیرته راوګرځید. نادر شاه شخصاً په دې لټه کې شو چې د خپل پوځ فراریان ونیسي او مات شوي تښتیدلي پوځیان یې بیرته را وګرځول. نادر په بیړه خپل لښکریان له ارغنداب څخه راپورې ایستل او کندهار ښار یې د توپچي د بې ځنډه ګولیو باران لاندې ونیو. شاه حسین د چهل زینه د غرد له پاسه افغاني توپچي ته دنده وسپارله چې دښمن تر اور لاندې ونیسي او سیدال خان یې د لښکر د سمبالولو او پر دښمن باندې د یرغل کولو په موخه کلات ته واستاو. سیدال ډیر ژر په کلات کې له خپل پوځ سره پر دښمن یرغل وکړ او د دښمن قوماندان فتح علي یې له څلورو خواوو څخه ایسار کړ. دا مهال نادر شاه د ختځ له لوري راورسید او فتح علي یې خلاص کړ. سیدال خان د کلات کلا ته ننوت او کلابند شو. نادر شاه هغه د خپلو نظامیانو په واسطه همداسې په کلابندي کې وساته او په خپله کندهار ته غبرګ شو او د ښار په لویه کلابندي یې لاس پورې کړ.

د کلابندیانو دغو جګړو دوه میاشتې وخت ونیو. ښاریانو به د شپې له خوا د نادر په لښکر د خرپ-ترپ یرغلونه کول او بیا به بیرته راستنیدل. نادر چې دا حال ولید، له خپل پوځ سره یې د-شیرسرخ په سیمه کې عسکري قرارګاه جوړه کړه او ډیر ژر یې هلته یوه لویه نظامي کلا آباده کړه. هغه د دې کلا د جوړولو لپاره د سیمې بزګران او افغاني اسیران او د کلیو بې وسلې خلک په کار وګومارل. د دغې کلا نوم نادر آباد شو، چې نړیدلي دیوالونه یې اوس هم شته. نادر وکولای شول چې په دغه کلا کې د کندهاریانو د شپې له یرغلونو ځان پټ کړي او وار په وار یې د کندهار کلابندي کلکه کړه او د ښار شاوخوا یې په ټاکلو واټنونو (څه نا څه په هر کلیومتر کې) جنګي ځلي جوړ کړل او په هر ځلي کې یې یو یو کنډک توپک لرونکي واچول. نوموړي د هر جنګي ځلي (برج) ترمنځ منځ نور واړه کاسه برجونه جوړ کړل او په هر یوه کې یې لس لس ته توپکیان کینول. په دې توګه د کلابندۍ کړۍ بشپړه او له ښار څخه د وتلو او ښار ته د ننوتلو لارې بندې شوې. له دې وروسته ښار ته د غلې ورتګ او پر دښمن باندې د کندهاریانو د شپې یرغلونه ودریدل او ښاریان په خپل ډیر خطر ناک حالت پوه شول، ترټولو مخکې اشرف سلطان توخي خان زړه له لاسه ورکړ او یوه شپه کې له ښار څخه وتښتید او د نادر لښکر ته یې پنا وروړه، د اشرف سلطان دې کار چې په خپله یو لوی خان و ښاریان ډیر ناهیلي او د دښمن معنویات یې پیاوړي کړل. اشرف سلطان د کندهار له نیول کیدو وروسته د همدې خدمت په بدل کې د کلات د ریاست په حکومت مقرر شو.

د کلات او شهر صفا نظامي کلاوو پوره دوه میاشتې د دښمن په وړاندې مقاومت وکړ، خو دغه کلاوې ډیرې کوچنۍ وې او غله یې ډیر ژر خلاصه شوه، د دغې کلا هغه زړور مدافعین چې ژوندي پاتې وو د دښمن له بریالیتوب وروسته تسلیمي ته اړ وتل. سیدال خان ناصري او د شاه حسین زوی محمد خان دواړه ونیول شول او نادر شاه ته وروستول شول، نادر شاه چې په ایران کې د سیدال شاه له میړانې څخه خبرو، مړ یې نه کړ خو ړوند یې کړ. په پښین کې ترکو او کاکړو پاڅون وکړ او د دښمن پر لښکر یې

Scanned by CamScanner

یرغل وروړ. خو د نادر ځواکونو هغوی په توپونو او ټوپکو مات کړل. د زمینداور کلا ترټولو وروسته له ماتې سره مخامخ شوه. د دغې کلا مدافعین څو میاشتې د دښمن پر وړاندې په کلکه ودریدل. او له هغوی څخه یې ډیر په ګولیو له پښو وغورځول او په پای کې دښمن وتښتید کله چې د دښمنانو قوماندان کلب علی ناهیلی شو. نو د نادر له خوا ورته ملاتړ کوونکی ځواکونه د دیوان قلی افشار او یاري بیک تر قوماندانۍ لاندې ورغلل چې دغه وروستي یې د توپچي افسرو کله چې نویو افسرانو کلابندي نوره هم کلکه کړه نو کلابې د نقب په الوزولو سره ولړزوله. نو ځکه یې د کلا ساتونکی بهادر خان تسلیمی ته اړ کړ. په دې توګه د کندهار شاوخوا نظامي کلاوې یو بل پسې له ماتې سره مخامخ شوې او کندهار یواځې پاتې شو. خو سره له دې هم کندهار په میړانه لس میاشتې د دښمن په وړاندې کلک ودرید په پای کې د چهل زینې غر چې د ښاریانو کلک ملاتړ و. د دښمن لاس ته ورغی له هغې ځایه چې د ښار د پاسه پروت و. د دښمن توپچي په برله پسې توګه ښار. کوروته. هغې او ارګ تر اور لاندې ونیول. نو رتو په ښار کې ګرځیدل او ژوندي پاتې کېدل نا ممکن شول. د ښار بهرنی برج هم د دښمن لاس ته ورغی دې پسې وروسته د ښار دروازه په ګولیو وویشتل شوه او د نادر ځواکونه ښار ته ننوتل

دا خل د دښمن ځواکونو نه ښځې کښل او نه ناربینه. ټول یې ووژل او د کندهار ښکلی او پرمختللی او کلک ښار یې په دې ډول وینې تویولو سره په ۱۷۳۸ کې ونیو. خو بیا هم شاه حسین لانه و تسلیم شوی او خان یې د ښار تر ټولو په لوړه برخه (نارنج په نوم شاهي ارګ کې کلابند کړی و. نادر امر وکړ چې توپچي دې قیتول (ارګ) وولی. د ګولیو باران شاه حسین اړ کړ چې راکوز شي او نادر ته تسلیم شي نادر امر وکړ چې شاه حسین د هغه له کورنۍ سره مازندران ته بوځي. هلته یې نوموړی په همدې کال په زهرو مړ کړ. دا مهال چې نادر له غلجیو څخه په ویره کې وو. د هغوی بو زیات شمیر یې د افغانستان لویدیځ ته خواره واره کړل. د هغو پرځای یې هغه ابدالیان چې صفوي دولت لویدیځ سیمو ته خواره واره کړي وو. راوغوښتل او په کندهار. بست او زمینداور کې یې د غلجیو ځمکې ابدالیو ته ورکړې او په دې توګه یې د دوی ترمنځ د نفاق اور بل کړ. خو د کلات پر غلجیو یې کار نه درلود او خپل ښاغلی اخیستی اشرف سلطان غلجي یې د هغوی په حکومت وټاکه او په دې توګه یې د یو شمیر غلجیو پلویتوب ترلاسه کړ. له هغوی څخه یې ځلور زره کسیز یوځ جوړ کړ او د خپل لښکر یوه برخه یې وګرځول د نادر شاه ترټولو د پر بدکار په افغانستان کې د کندهار نامتو ښکلی او پرمختللی ښار وېجاړول و چې وروسته تر ټولو څخه یې په اوښو اونیو کې هغه له خاورو سره برابر کړ او دغه د صنعت. پیشه وري او فرهنګ مرکز یې له منځه یووړ. حال دا چې شاه محمود او شاه اشرف د ایران په جګړو کې د ایران هیڅ ښار او آن هیڅ کلی وران نه کړل نادر شاه د کندهار تر نیولو وروسته د افغانستان د مرکزي او ختیزو سیمو خوا ته پام راواړاوه چې د هغې شرح به د افغانستان او نادر افشار تر سرلیک لاندې ولولئ

# اووم
# په لویدیزه جبهه کې د افغانستان د خلکو آزادي غوښتونکې مبارزه او په هرات کې د ابدالیانو د سیمه ییزو حکومت جوړیدل

د هرات په ولایت کې د صفوي دولت چارواکو د کورینیو فیوډالانو او عسکری ځواکونو په مرسته حکومت چلاو. خلکو د نفس کښلو وس نه درلود. په همداسې یو حالت کی د کندهار ابدالیان د کورنیو کشمکشونو او سیالیو او د فیوډالي جګړ له امله تجزیه شول. نو ځکه دوی یوشمیر یې د ګرشک او فراه دښتو ته خواره شول او هلته یې په مالداري پیل وکړ او نور شمیر یې له خپل خان (حیات سلطان) سره یو ځای (چې د خپل سیال د دولت خان له لاسه ماتې سره مخامخ شوی و) له کندهار څخه ملتان ته ولاړل، پاتې نور په کندهار او زیاتره یې په ارغستان کې اوسیدل. د کندهار صفوی حکومت چې د دغو ابدالیانو له ځواک څخه په ویره کی و، نو ځکه یې ورسره ښه چلند کاو. صفویان اړ شول چې د ابدالیانو په وړاندی په غلجیو ډډه ولګوي او د دوی دواړو ترمنځ له سیالي څخه په خپله ګټه کار واخلي. ګرګین د کندهار صفوي واکمن له دې څخه هم یو ګام وړاندې ولاړ او د ابدالیانو نامتو خانان لکه دولت خان، نظر محمد خان او رستم خان یې ووژل او د هغوی پاتی کسان یې لوټ او بیایې د لویدیځ خواته وشړل، په دې توګه ابدالیان له ګرشک څخه نیولی تر فراه پوری او اسفزار او هرات پوری خواره واره شول، کوم ابدالیان چې کندهار کی پاتی شول کوم مشر یې نه درلود.[1]

وروسته تر هغه چې د کندهار خلکو د پردیو په وړاندې پاڅون وکړ او د ایران پوځ یې له ګرګین سره یوځای له منځه یوور، نو د کندهار د ابدالیانو پام ملتان ته واوښت. دا مهال چې د تښتیدلو ابدالیانو مشر او پخوانی خان حیات سلطان مړ شوی و، د هغه زوی عبدالله خان یې د خپل مشر په توګه غوره کړ. عبدالله خان چې شاوخوا شرایط برابر لیدل، له خپلی کورنی سره یوځای له ملتان څخه کندهار ته راغی او سیمه ییزی چارې یې ترلاسه کړی. دغه هوښیار سړي د میرویس له سیاست او ځواک سره یوځای شو او د غلجیو او ابدالیانو یووالی یې مهم وګاڼه. د میرویس خان تر مړینې وروسته میرعبدالعزیز هغه هوښیاری او کفایت نه درلوده چې وکولای شي لکه د میرویس خان په شان د ابدالیو او غلجیو ترمنځ یووالی وساتی، نو ځکه په ۱۷۱۲ کی عبدالله خان ابدالی له خپلی کورنی سره یوځای له کندهار څخه هرات ته ولاړ. دا مهال لا هرات د صفویانو په واک کی و. له دغه مهاجرت څخه د عبدالله خان موخه دا نه

---

[1]- د ابدالیانو او خلجیانو په هکله په زړه پورې څېړنی د «افغاني غجلیانو اصل» نومی کتاب کی هم راغلی. و.ګ: د افغاني غلجیانو اصل، د علامه عبدالحی حبیبی لیکنه، میوند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ش.کال. ۴۳-۱۲مخونه. ژ.

Scanned by CamScanner

وه چې صفوي دښمن او بهرني حکومت ته تسليم شي، بلکې غوښتل یې چې لکه د میرویس په شان بهرنیان وشړي او هرات هم لکه د کندهار په شان آزاد کړي. دا ځکه چې د میرویس خان ویاړلو او له اتلولي څخه ډکو کارنامو نور قومي سیالان ډیر هڅولي وو. عبدالله خان په دغه نوي مهاجرت کې یواځې نه و، بلکې له هغه سره د ارغستان د ابدالیانو د وژل شوي مشر دولت خان زوی، محمد زمان خان هم ورسره و چې د هغه ملګري او پلویان هم ورسره ګډ شول. کله چې زمان خان د ګرګین د ورارہ خسرو رضا له خوا د کرمان له تبعید څخه را خلاص شو او د کندهار د غلجیو په ضد د فعالیت کولو لپاره راوبستل شو، نو د میرویس په وړاندې یې توره را نه کښله، او له عبدالله خان سره هم ونه نښت چې د دوی پلار پرځای ناست و، بلکې د هغه تبعیت یې ومانه او له میرویس خان سره یې هم لاس یو کړ. د میرویس خان له مړینې وروسته چې عبدالله خان په هرات ورغی، زمانخان هم له خپل دغه پخواني سیال سره یوځای شو چې عبدالله خان نور هم پیاوړی شو

خو د هرات صفوي حکومت چې د کندهار پیښې یې کتلې. نه پرېښودل چې دغه ډول پیښې په نورو سیموکې تکرار شي. همدا چې صفویانو په هرات کې ولیدل چې نوی راغلي سړی عبدالله خان یو ادعا لرونکی سړی دی، نو ډیر ژر یې هغه او د هغه ځوان زوی دواړه بندیان کړل، د دې په مقابل کې د هرات خلک چې د صفوي عباس قلي له ظلم او ډیر زیات تیري څخه په تنګ شوي وو، پاڅیدل او هغه یې له کار څخه لرې کړ. دا مهال چې صفوي دولت د کندهار له پاڅون څخه وروسته په ویرې کې لویدلی و، ډیر ژر یې جعفر استاجلو د هرات د والي په توګه وټاکه ترڅو امنیت وساتي، خو مخکې تردې چې جعفر هرات ته راورسیږي، عبدالله خان ابدالي وتوانید چې له محبس څخه وتښتي. عبدالله خان مخامخ اسفزار ته ولاړ، د هغه ځای د ابدالیانو خواره واره ځواکونه یې سره را یوځای کړل او د خلکو په اتفاق یې د اسفزار کلا ونیوله، له همدې څخه وروسته اسفزار د پاڅون کوونکو خپلواکی غوښتونکو مرکز شو.

د عبدالله خان استازی تر فراه او بکوا پورې ورسیدل. دا مهال یې سلا-مشوره خلکو او ابدالیانو ته همدا وه چې سره یو موټی شي. هغه د یوه وسله وال پوځ تر جوړولو وروسته د هرات په لوري روان شو، هلته له ښار څخه بهر د هرات د حاکم جعفر خان له پوځ سره مخامخ شو، د هغې ډیرې کلکې جګړې په ترځ کې چې هلته پیښه شوه، ایراني ځواکونه مات شول او جعفر خان ونیول شو، عبدالله خان بې ځنډه پرمخ ولاړ او د هرات کلک ښار یې کلابند کړ. د هرات ساتونکي هراتي ځواکونو کلکه دفاع کوله، خو د هرات خلکو د پردیو واکمنی نه غوښتله، نو ځکه یې د پیله خانی د برج له لوري او د عراق او ملک دروازې ترمنځ یې خپلواکی غوښتونکو ته د ننوتلو لار ورکړه. عبدالله خان ابدالي هرات ښار له ایراني ځواکونو څخه پاک کړ او د هرات ملي حکومت یې اعلان کړ (۱۷۱۷-۱۷۳۱).

همدا چې په ۱۷۱۷ کې د هرات د ابدالیان حکومت جوړ شو، عبدالله خان د ټول هرات د خانانو او ابدالیانو د مشرانو له خوا د حکومت د رئیس په توګه ومنل شو. عبدالله خان قبلوي دود-دوستور پرځای کړ او د قومونو د مشرانو جرګه یې جوړه کړه. په دغې جرګه کې د حکومت ټولې چارې وڅېړل

Scanned by CamScanner

شوې او د فیصلو د عملي کولو واک د حکومت مشر ته وسپارل شو. د هر قوم خلک د خپل مشر ترشا ودریدل. دغه هر مشر د اړوند قوم خانان وو. د دغې جرګې یو نامتو غړی د هرات د الکوزیو عبدالغني خان و. د هرات په ښار کې د ابدالي حکومت تر جوړیدو وروسته، جرګې ټول هغه خوانان چې وسله یې اخیستلای شو، د هرات او اسفزار او شاوخوا سیمو څخه راټول کړل. چې دوی زیاتره شپانه وو او په دې توګه یې له دوی څخه د ابدالیانو یو دایمي لښکر جوړ کړ. عبدالله خان په همدې څواک سره په بیره د غوریان، کهسان، مرغاب، بادغیس او او سیمې یې د هرات مرکزي حکومت پورې وتړلې. همدارنګه نوموړي یو څواک په ناڅاپي توګه فراه ته واستاو او د فراه کلایې ونیوله او دغه کلکه کلایې هم هرات پورې وتړله، په دې توګه له هرات څخه تر کندهار پورې (پرته له اوسني خراسان څخه) تقریباً د لویدیځ افغانستان سم نیمایي د هرات د ابدالیانو او د کندار د غلجیو په لاس آزاد شو.

د همدغو پیښو په ترڅ کې د ایران صفوي دولت په کرار نه و ناست. بلکې له هغې خوا څخه یې د فتح علي ترکمن په مشرتوب د هرات د بیرته نیولو په خاطر یو لښکر راواستاو، خو افغاني ساتونکو د عبدالله خان د زوی اسدالله خان په مشري د (کوسوبه) په سیمه کې د دښمن پوځ تبا کړ.

د ایران دولت په ۱۷۱۹ کې د دیرش زرو سرتیرو او بشپړ توپچي په ګډون یو لوی لښکر د خپل یوه نامتو افسر صاقي قلي خان په مشري د فراه د جبهې په لوري راوست. اسدالله خان له خپلو پنځلس زره جنګیالو سره د کاریز کلا په سیمه کې د هغوی مخه ونیوله او یوه کلکه جګړه یې ورسره پیل کړه.

له دې امله چې افغاني ساتونکو کوم توپ نه درلود او د ایران توپچي تر اور لاندې راغلي وو، د توري په زور د لښکر منځ ته ورغلل، خو ترڅو چې د دښمن د توپونو د اور له سیمې څخه تیریدل دری زره تنه یې ووژل شول، کله چې دوی د دښمن پر پوځ یرغل وکړ، د هغوی یې اته زره ووژل. په دې ترڅ کې د ایران د دولت توپچي له ډیرې ویرې د افغاني لښکر پرځای خپل نظامي ټولګي تر اور لاندې ونیول، هغوی دا مهال یوه غونډۍ نیولې وه[1].

په هرحال؛ د هغوی ماتې بشپړه شوه او سمدستي د هرات د ابدالیانو حکومت د صفوي دولت له تیرې څخه وژغورل شو. خو لاهم کورنی نفاق لګه د یوه مار په شان د ابدالیانو او غلجیو د حکومت په لستوڼي کې ځای نیولی و، شاه محمود هوتکي په همدې کال (۱۷۱۹) کې وروسته تر هغه چې ایرانیان ته یې په فراه کې د ابدالي حکومت له لوري ماتې ورکړه، د فراه د نیولو په نیت روان شو، خو اسدالله ابدالي د فراه د دلارام په سیمه کې د هغه مخه ونیوله او د دوی ترمنځ کلکه جګړه ونښته، شاه محمود او اسدالله دواړه یو د بل وطنوال او زړور څوانان وو، د دې پرځای چې د خپل ګډ دښمن په وړاندې سره یوشي، یو د بل په وړاندې یې دومره توري ووهلې، ترڅو چې اسدالله د جګړې پر ډګر ووژل شو او شاه محمود جګړه وګټله. سره له دې چې وروسته تر دې په شاه محمود باندې د هرات ابدالي حکومت نور یرغل ونه کړ، خو دده همدغه کار یوځل بیا د غلجیو او ابدالیو ترمنځ نفاق د مړ شوي اور بیا را تازه کړ چې په راتلونکې کې د ټول افغانستان په زیان و.

د دلارام جګړې او د اسدالله وژل کیدو د هرات د ابدالیو د حکومت استقرار ولړزاو، بوډا عبدالله خان د

---

[1]- تاریخ عمومي عباس اقبال- د ایران چاپ

Scanned by CamScanner

خپل ځوان او زړور کاري زوی له وژل کېدو څخه وروسته نا امید او زړه ماتی شو او د هرات مهم غړي عبدالغنی الکوزي هغه وهڅاو چې استعفا وکړي. په دې توګه زمانخان ابدالي (د ابدالي احمدشاه پلار) د حکومت مشر شو کله چې زمانخان واک ترلاسه کړ. د قومي سیالی او فیوډالی دود-دستور له مخې یې عبدالله خان غوندې یو نامتو او هوښیار سړی بندي کړ او بیایې په زهرو مړکړ. له دې وروسته د هرات په نوي جوړ شوی ابدالي دولت کې د شخصی دښمنیو اور ولګید او ورو ورو د حکومت مشر توب له یوه لاس څخه بل ته لویدل پیل کړل. په بنسټ کې د هرات د ابدالیانو حکومت د کندهار د غلجیو د حکومت په پرتله ابتدایي بڼه درلوده. دا ځکه چې د هرات ابدالیان زیاتره هغه پوونده خلک وو چې د هرات ښاري ژوند کی یې لږ وخت تیر کړی و او فیوډالانو او مالدارو اشرافو دا خوښوله چې تل له مرکز څخه په تیښته کې وي

په داسی یو مهال کې چې د ایران صفوی دولت د اسدالله خان له وژل کیدو، د عبدالله خان له بندي کیدو او د هرات او کندهار ترمنځ له دښمني څه خبر شو، یوځل بیایې د هرات د نیولو په خاطر د صفی قلی ترکستاني او غلي تر مشري لاندې یو لښکر سوق کړ. د هرات د حکومت د نوي مشر زمانخان (له ۱۷۱۹ څخه تر ۱۷۲۲ پورې)، د هرات مشران او خانان ډاډه کړل او هغوی یې پخلاینې ته وهڅول او جرګه یې درنه وبلله او عبدالغنی خان الکوزي ته یې نور هم لوړ دریځ ورکړ او بیایې د هرات پخوانی ایرانی حاکم جعفر خان استاجلو چی بندي و. د صفوی سوقیاتو په غبرګون کې د هرات د ښار په نوي بڼ کې اعدام کړ او په خپله له لښکر سره یوځای د کافر کلا (اوسنی اسلام کلا) خواته د دښمن مخې ته ورغی او د دښمن مخه یې ونیوله. په دغه جرګه کې زمان خان په عملی توګه دا ثابته کړه چې د اسدالله خان او عبدالله خان له وژل کیدو وروسته په حکومت کولو کې کم نه دی. هغه ایراني لښکر له ماتې سره مخامخ کړ او د دښمن د لښکر قوماندان صفي قلی یې وواژه او بېرته هراتت ته راستتون شو. زمان خان اړ و، چې یو څه هڅې وکړي چې هغه تزلزل چې د اسدالله خان او عبدالله خان له وژل کېدو څخه وروسته په حکومت کی راغلی و، په زغم سره په جرګو سره بیرته کلک کړي، خو زمانخان د خپل واک په دریم کال ومړ. دا مهال د هرات د ابدالیو پخوانی کینه او دښمني بیا را وپاریده، دا ځکه چې هغه بهرنی فشار چې دوی یې یوه نسبی یووالي ته اړکړی وو او ټولو په ډله ییزه توګه دفاع کوله، نور له منځه تللی و، د زمانخان له مړینې وروسته د هرات د جرګې ګڼ شمیر غړو، د زمانخان د کورنی د پلویانو او د عبدالغنی الکوزایي له غوښتنې سره سره. بیاهم د هرات د حکومت پخوانی مشر د عبدالله خان زوی محمدخان چې په شورابک کی د یوې سیمی مشر و، د حکومت د مشر په توګه وټاکه. هغه هرات ته راغی او د حکومت چارې یې ترلاسه کړي (۱۷۲۳-۱۷۲۲).

کله چې محمدخان ولیدل چې صفوي دولت له منځه تللی او د غلجیانو حکومت هم له ایران سره په ستونزو اخته دی، نو په دې لټه کی شو چې د هرات پولو ته پراختیا ورکړي. لومړی یې اوسني خراسان باندې یرغل وکړ، د مشهد ښار یې ونیو، هلته د کلاوو[1] جګړو څلور میاشتې وخت ونیو، په دغه موده

---

[1]- هغه مهال سنګرونه په کلاوو کی ر نوخکه یې په دري ژبی کی ورته جنګ حصار ها ویل .ژ.

کې محمد خان په هرات کې د خپلو کورنیو سیالانو او د هرات د اداري له پلوه په تشویش کې و. نوځکه پرته له کومي پریکنده پایلې څخه بیرته هرات ته راغی او په همدي ترڅ کې یې د غوریان په لویدیځ کې د (سنګان) نظامی کلا ونیوله. ترڅو چې محمد خان هرات ته را رسید، د سیمې د سیالو خانانو غرضونو خپل کار کړی و او د محمد خان د لرې کولو جرګه یې جوړه کړې وه او جرګې د هرات له حکومت څخه د محمد خان ګوښه کول اعلان کړل

جرګې د محمد خان پرځای د هرات د حکومت د مړه شوی مشر زمانخان زوی ذوالفقار خان وټاکه (۱۷۲۴-۱۷۲۵). هغه د حکومت د چارو د ترلاسه کولو په خاطر له شورابک څخه هرات ته راغی. په بل کال د عبدالله خان بل زوی رحمان خان له خپلو یوشمیر وسله والو پلویانو سره هرات ته راغی. او له ذوالفقار څخه یې د خپل پلار په زهرو باندې د وژل کیدو پوښتنه رامنځته کړه. دغې وسله والې دعوا ابدالیان په دوو برخو وویشل یوه برخه یې د عبدالله خان د کورنۍ پلویان وو او بله برخه یې د زمان خان د کورنۍ پلویان شول. په دې توګه د کورنۍ وینی تویولو ګواښ او د هرات د ابدالیو د حکومت د عمومي پرځیدلو ورځ را نږدې‌له. نوځکه جرګې د مدعي (رحمان خان) او معي علیه (ذوالفقار خان) د شخړې د مخنیوی هڅه وکړه. دواړه یې لرې کړل او ذوالفقار خان یې په باخزر کی او رحمان خان یې په فراه کی میشت کیدو ته محکوم او دغو ځایونو ته یې ولیږل

هغه مهال چې عبدالله خان ابدالي د کندهار د ابدالیانو په بلنه له ملتان څخه، کندهار ته راغلی و، یو زوی یې (الله یار) سره له یوشمیر خپلوانو او د قوم خلک یې په ملتان کی پاتې او هلته میشت وو. په دې توګه د هرات جرګې د ذوالفقار او رحمن خان له شړلو وروسته الله یارخان ته بلنه ورکړه چې هرات ته راشی او د چارو واک ترلاسه کړي (۱۷۲۵-۱۷۲۹).

الله یارخان لکه د خپل پلار عبدالله خان او لکه د خپلی کورنۍ د سیالانو (زمانخان او د هغه د زوی ذوالفقار خان) په شان یو ښه کارپوه سړی و. خو د کورنیو شخړو، قوي نفاق او فیوډالي غرضونو له امله هغه هم لکه د هغوی په شان ناکامي سره مخامخ شو. ترټولو زیات عبدالغني الکوزایي چې یو واک غوښتونکی سړی و، خو د مشري غوښتنه یې په ښکاره ډول د لویو خانانو ترمخی نه شوه کولای، اوبه خړولی او د نفاق لمن یې پراخوله. ده تل دا کار کړی و. او هیله یې وه که وکولای شي چې د اوبو په خړولو سره کبان ونیسي، عبدالغني الکوزایي په هرات کې د ذوالفقار په نوم د الله یارخان د حکومت پرضد پاڅون وکړ او ذوالفقار یې وهڅاو چې له باخزر څخه په هرات راشي، په دې توګه د دواړو ترمنځ کورنۍ جګړه پیل شوه.

نورنو د عمومی مصلحت او د اداري تنظیم کولو خپل ارزښت له لاسه ورکړی و، هریو د خپل کورني سیال په ځپلو لګیاو او بس. دغه جګړې شپږ میاشتی اوږدې شوې ترڅو چې خلکو له دواړو څخه کرکه پیدا کړه. په دې توګه جرګی ذوالفقارخان د مرو چاق په حکومت او الله یار د فراه په حکومت وټاکل، جرګی د نوي حکومت د مشر له ټاکلو څخه ډډه وکړه او د حکومت چارې یې په خپله لاس کی واخیستی (خو جرګی هم ټاکلی مشر نه درلود)، دغه بی مشر او پرته له رئیس څخه اداره یوڅو میاشتی وه، ترڅو

چې د شاه طهاسب صفوي د نظامي تشکیلاتو آوازه واوریدل شوه او د نادر افشار د یرغل ګواښ د هرات جرګه ولړزوله. جرګې ډیر ژر بیرته الله یارخان له فراه څخه را وغوښت او د حکومت مشري کړ او د هغه پرځای یې ذوالفقار خان د فراه حکومت ته وګوماره. له دې امله چې یو ځل بیا د بهرنیو د یرغل ګواښ راپیښ شو، نو ابدالیانو بیرته له کورنیو شخړو لاس واخیست او یو څه نا څه کراری شوه، ترڅو چې په هرات باندې د نادر افشار یرغلونه پیل شول.

## د هرات د حکومت ړنګیدل

نادر افشار وروسته ترهغه چې د ایران په شمال کې د شاه طهاسب صفوی په نامه د یوه ځواکمن لښکر په جوړولو بریالی شو، او وبې لیدل چې شاه اشرف په ایران کی له روسیې او ترکیې سره په جګړو بوخت دی، نو ځکه یې په خپله افغانستان ته پام راواړاو. دا مهال اوسنی خراسان ولایت او سیستان د ملک محمود سیستانی تر واکمني لاندې و. دغه سړي چې کله ولیدل چې په هرات او کندهار کې خلکو پاڅونونه کړي دي او له صفوی دولت څخه یې خپله خپلواکي ترلاسه کړي ده او آن دا چې شاه محمود هوتک په ایران کی د ننه بنه پرمختګونه کړي دي، هغه هم چې په سیستان کې د سیمه ییزواک لومړی شخص و، د ایران د صفوی دولت د واک په وړاندې پاڅید او په ۱۷۲۲ کی یې اوسنی خراسان ولایت له صفوی حکامو او عمالو څخه خپلواک او پاک کړ او په دې توګه یې په سیستان او خراسان کی خپل خپلواک حکومت اعلان کړ.

نادر افشار لیدل چې د خراسان، کندهار او هرات حکومتونه له یوبل څخه جلا دي، له بلې خوا په کندهار کی هم هوتکی حکومت یواځې دی، نو ځکه یې د افغانی حکومت له دغو اختلافاتو څخه پوره استفاده وکړه او په خراسان ولایت یې لښکر وکیښ او ډیر ژر یې ملک محمود مات او بیایې دواړه، مشهد او نیشاپور او د خراسان ولایت ډیرې سیمې یې له ۱۷۲۲ څخه تر ۱۷۲۷ پورې ونیولې. په دغو ټولو یرغلونو کې هیڅا له هیڅ لوری څخه ملک محمود سره کومه مرسته ونه کړه. په نیشاپور کې هم افغاني درې زره مدافعین له نادر افشار سره په جنګ کې تباه شول. له دې وروسته بیا نادر له شاه طهاسب سره پر هرات یرغل وکړ. په لومړي قدم کی یې سنګان کلا له افغانی ساتونکو څخه د توپچی په زور ونیوله او د کلا ټول نر او ښځی یې ووژلې.

د هرات حکومت مشر الله یارخان ته چې دښمن ترکور پورې ور رسیدلی و، سنګان کلا ته یولښکر د مرستې لپاره واستاو، خو نور نو وخت تیرو، نادر کلا ونیوله او دوی سره یې جګړه پیل کړه. پنځه شپې او ورځې دغې جګړې دوام وکړ، نادر په توپچی باندی خپل سنګرونه ساتل. ترڅو چې په پای کی بی له کومی پایلې نادر بیرته خراسان ته ستون شو او په بل کال (۱۷۲۸) کې یې له یو څه بشپړو تجهیزاتو سره په یرغل پیل وکړ. الله یارخان په کوهستان کې د دښمن د مخنیوی لپاره ورغی، دا وخت نادر کاپر کلا ته ولاړ. د هغی جګړې په ترڅ کې چې د دوی دواړو ترمنځ وشوه، د افغاني پوځ سپرو د دښمن پر توپچی یرغل وکړ، خو ډیرو زیاتو تلفاتو سره مخامخ شو، خو بیایې هم دښمن ښه بوره وارخطا کړ. نادر په

Scanned by CamScanner

همدغه جګړه کې په پښنه تېښی شو. د جګړې په دوهمه ورځ د نادر توپچي د افغاني سپاهیانو صفونه مات کړل الله یارخان یوځل بیا خپل خواره واره پوځونه سره راټول کړل هرات ته په شا شو. یوه برخه نور یې د خپلو کورنیو د غړو د بیولو په خاطر د غوریان کلا ته واستول. نادر بې له ځنډه هغوی پسې هرات ته ورغی، خو الله یارخان یوځل بیا ځان سمبال کړ او له ښار څخه لس فرسنګه لری د پریان پړاو کې د هغه مخې ته ورغی. دلته جګړه دومره کلکه وه چې خبر. له توپ او ټوپک څخه پاتې او د لاس-ګریوان جګړه پیل شوه. د نادر سپاهیان سمدستي په شا شول، دوه ورځې نور د هرات بادونو او خاورو دوړو جګړه درولې وه، په دریمه ورځ نادر سوله وکړه الله یارخان د هغه د سولې وړاندیز ومانه. نادر د (مویزک) کلي ته په شا شو او د سولې خبرې اترې پیل شوې. په همداسې یومهال کې د فراه حاکم ذوالفقار خان له یوشمیر وسله والو سره د هرات مرستې ته راغی، نادر چې داحال ولید د (شکیبان) کلي ته ولاړ او یوځل بیا جګړه پیل شوه. نادر یوه قوي توپچي قوا درلوده، عسکرو یې تر ماښام پورې ښه پوره مقاومت وکړ. د شپې نادر شاه طهماسب د شکیبان په لښکر کوټ کې پرېښود او په خپله د هرات په خوا روان شو، خو افغانانو یې د شکیبان او کوشک ترمنځ لاره ونیوله. یوه ورځ بل دلته جګړه وشوه، خو بیاهم د ښمې جګړې کومه پایله نه درلوده، سبا بیا د سولې خبرې پیل شوې. په خبرو اترو کی عبدالغنی الکوزی واک درلود، نادر افشار را ومنله چې افغانی بندیان به پرېږدي او خپله به بیرته خراسان ولایت ته ستون شي. یوه توره یې هم الله یارخان ته سوغات ورکړه. په دې توګه وروسته تر دریو میاشتو څخه د نادر او هرات ترمنځ دوهم نظامی کشمکش هم پای ته ورسید.

له دې څخه وروسته نادر خپل پام په ایران کې د هوتکي دولت خواته واړاو او بیا ورپسې له ترک سره د ایران د استرآباد د سیمو پرسر جګړه کې ونښت او په دې توګه هرات بې جګړې پاتې شو. ترهغه چې په ایران کې شاه اشرف او په خراسان کې ملک محمود له منځه ولاړل د کندهار او هرات افغانی حکومتونو هیڅ هم نه کول، خو د هغوی دواړو په له منځه تلو سره چې کله نادر د ایران په لویدیځ کې بوخت شو، نو دا مهال هرات وغوښتل چې پر خراسان یرغل وکړي او مشهد او نیشاپور بیرته ونیسي. الله یارخان له دغه وړاندیز سره مخالفت وکړ، نو ځکه د سیالو خانانو له دښمنۍ سره مخامخ شو. دده مخالفینو ذوالفقار خان چې هرات سره له مرستې وروسته فراه ته تللی و راوغوښت ترڅو هغه د الله یارخان په ځای وټاکي، ذوالفقار راغی، خو الله یارخان جګړه ورسره پیل کړه. دغه کورنی فیوډالي جګړه دري میاشتې روانه وه، ترڅو چې الله یارخان د ابدالیو په مرسته، په تیره بیا د عبدالغنی الکوزي په کمک سره بریالی شو او په ۱۷۲۹ کې د حکومت د مشر په توګه وپیژندل شو. د خانانو دغه کار وروسته پر الله یارخان ډیره اغیزه وکړه، او د خپلو فداکاریو سره سره بیاهم ډیر نا امید شو او له هرات څخه ووت مرو چاق ته ولاړ، خو هلته چې د هغه د میشت کیدو ځای و هم ډیر پاتې نه شو، له هغه ځای د نادر د وراره ابراهیم خان خواته په مشهد کې ورغی. ابراهیم ته دغه ډیره قوي وسله په لاس ورغله او ښه راغلاست یې ورته ووایه ترڅو هغه د هرات په وړاندې استعمال کړي، خو الله یارخان ځان بیطرفه وساته او نادر په لیکلي ښه ډاډ ورکړ.

په ۱۷۳۰ کی له اته زره کسیز لښکر سره مخ په خراسان ورغی او هلته یې په (زاویه خواجه ربیع) کې ځانته لښکر کوټ جوړ کړ. نادر چې د افغاني جنګیالیو په تاکتیک باندی پوهید، نو خپل وررور ته یې امر وکړ چې په ډګر باندې له افغانانو سره جګړه ونه کړي، بلکې دده تر رسیدلو پورې ځان کلابند وساتي، خو ابراهیم چې نه پوهید. هر ورځ به یې شا د ښار دیوال ته کړه او د افغانانو په وړاندې به یې دفاع کوله. په دې ترڅ کی دومره زړور شو چې یوه ورځ یې د (کوه سنګین) په سیمه کی په ډګر باندې افغانانو سره په جګړه پیل وکړ، د ذوالفقار لښکر هغه لښکر مات کړ، د دغه پوځ د ټوپک لرونکو سرتیرو قوماندان باقر خان یې ټپي کړ. د ذوالفقار لښکر د دښمن پسی وځغلاو. د ایران ډیرو پلیو سرتیرو ځانونه خاګانو او کاریزونو ته واچول. خو یواځی ابراهیم خان ښار ته په ننوتلو بریالی شو او د ښار دروازه یې وتړله. ښار یوه میاشت کلابند شو. دا مهال د نادر زوی رضا قلی د دغې پیښې خبر نادر ته ورساوه. نادر په بیړه له تبریز څخه په مشهد راغی، ذوالفقار بیرته هرات ته ستون شو. نادر چې مشهد ته راورسید، خپل وررور یې ډیر ملامت کړ او پنځه میاشتې وروسته نادر په ۱۷۳۱ کې یوه پیاوړې دیرش زریز لښکر سره پر هرات یرغل وکړ او د هرات د لویدیز په دری فرسخ واټن کی (د نقره ویالې ترخنګ) یې سنګرونه ټینګ کړل. ذوالفقار د هرات ښار کلک کړ او هره ورځ به له ښار څخه بهر د دښمن له لښکر سره نښت او بیا به بیرته راستون شو. نادر په ډیر احتیاط خپل سنګرونه جوړ او خپلی ډیر پیاوړی توپچی یې د خپل لښکر لپاره سپر کړ. په همدې مهال سیدال خان ناصری له کندهار څخه له دری زره تنو سپرو او پلیو سره د هرات مرستې ته راورسید.

دغه نامتو او زړور افسر په شپه کې د نادر پر ځواکونو ویروونکی یرغل وکړ، دغه یرغل دومره ناڅاپی او ځپنده و، چې د ایران لښکر ترهیدلی او ډیر تلفات یې ورکړل. نادر اړ شو چې د جګړې له ډګر څخه ووځي او په لوړو غونډیو (تخت صفر) کې پټ شي. دلته یې د ټوپک لرونکو سرتیرو یوه کړی جوړه کړه او په دفاع یې لاس پورې کړ. د کندهار او هرات لښکرو دوه ورځې نور هم دښمن تر ګوزار لاندې ونیو، خو د یوی کلکی زلی له امله جګړه ودریده. ذوالفقار د ښار دننه یوه جرګه وکړه او له مشرانو څخه یې هغه وروستی ژمنه ترلاسه کړه چې د هغه له مخی به جګړه د توان تر وروستی شیبې پورې دوام ومومي. دې پسې یې په یوه عمومي او قوی یرغل پیل وکړ. نادر ډیره هڅه وکړه چې د خپل توپچی او ټوپکو د ګولیو په باران سره د دغه یرغل مخه ونیسی، خو لاره نه وه، نو ځکه اړ شو چې یو ځل بیا پر شا ولاړ شي. افغانانو ډیر ژر د (ساق سلمان) کلا د خپل دوهم لښکر کوټ په توګه جوړه کړه او له هغه ځایه یې پرله پسې پر دښمن باندې یرغلونه کول او هغوی یې نور هم ټکول او بیا بیرته راګرځیدل. نادر اړوت چې په یوه بل پریکنده یرغل لاس پورې کړي. نو دا ځل د توپچی له ځواک سره را مخته شو، هڅې یې وکړې خو بریالی نه شو، بل ځل یې په یوه پراخه کړی کې د هرات کلابندي پیل کړه. درې زره سرتیري یې د محمد سلطان په مشرې وګومارل چې فراه او خاش لوټ کړي او لارې یې له هر لوري بندې کړی او په خپله یې (پوزه کبوتر) سیمه کلکه کړه.

Scanned by CamScanner

د هرات پوځونو یوځل بیا په یوه نوي یرغل لاس پوري کړ. دا ځل جګړه د شمسي آباد په سیمه کې ونښته. د دښمن توپچي ډېر رسا ګوزارونه وکړل چې د هغو له امله دری زره افغان سرتیري د جګړې پر ډګر ووژل شول. دغه تلفات ډېر درانه وو. دا ځکه چې د لښکر هغه ترټولو زړور او جنګیالي سرتیري ووژل شول. نو ځکه د هرات ځواکونو د جګړې له ډګر څخه په شا تګ غوره وباله. دوی د ځواکونو د بیا سمبالولو په خاطر ځانونه د هرات په ښار کې کلابند کړل. نادر د «ناګهان» په کلي کې د مالان د پله خواته لښکر کوټ وغورځاو او د خپل پوځ شاوخوا یې ژوری کندې وکنیدلې. همدا مهال یو لوی خان له خپلو درې زره وسله والو سره هرات ته راغی او د دوست پرځای دښمن سره یوځای شو. دا هماغه دلاورخان تایمني و چې مخکې یې د نادر له ځواکونو سره جګړې کړې وې او وروسته تر ماتې څخه کندهار ته تللی و او هلته یې دروند ژوند غوره کړی و. خو یو ناڅاپه له شاه حسین هوتکي څخه مرور شو، نو ځکه د هغه د دولت د نړولو په لټه کې شو. له دې امله چې ده خپله دا کار نشو کولای نو نادر افشار ته یې مخ واړاو. نو ځکه له کندهار څخه هرات ته راغی، ترڅو په هره بڼه چې کیږي، نادر د کندهار نیولو ته وهڅوي. دلاورخان یوه ښکلې لور درلوده شاه حسین غوښتل هغه ځانته واده کړي، خو دلاور خان دغه ډول اجباري واده پتمن نه باله، نو ځکه یې لور بل چاته ورکړه او په خپله د شاه حسین له ویرې هرات ته را وتښتید او له خپلو ځواکونو سره یوځای نادر ته تسلیم شو. هغه یې د کندهار له کمزوره ځایونو څخه خبرکړ او بیایې یرغل ته وهڅاو.

د دښمن پوځ سره د دولاور خان یوځای کیدو نادر نور هم زړور کړ. د نادر پوځیانو تر دې مهال پورې خاش د یوې جګړې په ترځ کې له افغانانو څخه نیولی و، همدارنګه دا امر یې هم کړی و چې له سیستان او کرمان څخه دې د امام ویردی او سلطان محمد په مشرې یو لښکر د فراه ښار ونیسي، نادر خپل ورور د مشهد حاکم ابراهیم ته دنده وسپارله چې د نیشاپور او مشهد له لښکر سره فراه ته ورشي د کندهار، هرات لارې وتړي او په لارو باندې څارنه پیل کړي. سره له دې چې د فراه حاکم علیمردان ابدالي د امام ویردی او محمد سلطان ځواکونو ته د «ده نو» په کلي کې ماتې ورکړه او فراه ته نژدې یې محمد سلطان د کرمان د پوځ له افسرانو سره یوځای وواژه او خپله یې ځان د فراه په ښار کې کلابند کړ، په دې توګه د کندهار او فراه اړیکې له هرات سره پرې شوې. له بلې خوا نادر د هرات په لویدیځ کې لس زره سرتیري د «نقره» د سنګر د ساتلو لپاره او لس زره تنه د ښار جنوب کې د ناګهان د سنګر د ساتلو لپاره وګومارل او لس زره تنه نور یې د ښار د ختیځ سنګرونو د ساتنې لپاره وټاکل. په خپله یې له ښار څخه یو فرسنګ لرې واټن کې د «اردو خان» په کلي کې سنګر ونیو. ذوالفقا خان د ښار برجونه په توپونو کلک کړل او له هغه ځایه یې ښتته ونیوه، آن دا چې یوه ورځ د توپ یوه ګولۍ د نادر په خیمه ورغله خو هغه هلته نه و، نو ژوندی پاتې شو.

یوه ورځ ذوالفقار په ۱۷۳۱ کې هوډ وکړ، چې په یوه پریکنده یرغل لاس پوری کړي، نو ځکه له خپل کوچني لښکر سره له ښار څخه ووت او د نادر په سنګرونو یې کلک کلک یرغلونه وکړل. نادر هم کلکه دفاع وکړه، دا مهال د ښار د ختیځ مفرزه راورسیده او افغاني پوځ د دوو ځواکونو ترمنځ راګیر شو، له دې امله چې د ماتې ګوابن رانژدې و. نو افغانان په شا شول، په توره یې ځانته لار پرانیسته او ښار ته

Scanned by CamScanner

راغلل او یوځل بیا یې ښار کې ځانونه کلابند کړل. نادر نور هم زړور شو چې له ښار څخه ووځي او خان ته خوراک راوړي نو د تورې په زور به د دښمن له منځنه وتل او بېرته به راتلل. د همداسې یوه یرغل په ترڅ کې کله چې افغانان بېرته ښار ته را ګرځېدل د نادر پوځونو سره مخامخ شول او کلکه جګړه پیل شوه. ډېر افغانان یکې ووژل شول په دې توګه د دوو نا برابرو ځواکونو ترمنځ څلور میاشتې جګړه روانه وه. د هرات د ښار خلک له کاختي سره مخامخ شول، خو دښمن ته تر ایران پورې د مرستې او خوراکي توکیو د راوړلو لاره پرانیستې وه او په ډاډه زړه یې جګړه کوله. سیدال خان ناصري په ښار کې دننه له پاتې ځواکونو سره یوځای د خوراک د برابرولو په خاطر له ښار څخه را بهر شو. خو بیرته ستنیدلای نشو، نو ځکه اسفزار ته ولاړ.

ذوالفقار خان چې ددې ستونزو ترڅنګ د کورنیو سیالانو او د ابدالیانو د دوو مخالفو ډلو مخالفت ته کتل. ډېر ژر یې یوه جرګه جوړه کړه او ویې ویل:

لکه د نادر په شان د یوه قوي دښمن په لرلو سره بیاهم زموږ کورنۍ نفاق شته او دا به آخر د هرات د حکومت د پرځیدو لامل شي، نو تاسې ددې نفاق د له منځه وړلو لپاره څه لاره سنجوئ؟ زه به ستاسې پریکړې ته غاړه کیږدم. د الله یارخان د پلویانو شمیر چې زیات و، وویل: موږ دا وړاندیز کوو چې تاسې حکومت الله یارخان ته وسپارئ چې اوس د نادر په پوځ کې دی. ذوالفقار وویل چې زه ستاسې له مشورې سر غړونه نه کوم، د حکومت خیر د خپل خیر په پرتله غوره بولم تاسې ولاړ شئ او الله یار راولئ چې زه حکومت ورته وسپارم. دې پسې وروسته هیئت د نادر پوځ ته ورغی او د خلکو له خوا یې دا پیغام ورووړ چې آیا د مسلمانانو ترمنځ د دغې مسلمان وژنې پایله څه ده؟ که تاسې هرات غواړئ نو الله یارخان ستاسې دوست چې له تاسې سره دی هغه موږ ته راولیږئ چې ښار هغه ته وسپارو. نادر چې له افغانانو سره له ډیرو جګړو څخه ستومانه شوی و، د هرات د ښاریانو دغه شرط یې ډیر ژر ومانه او الله یارخان یې د هرات د حاکم په توګه وپېژاند او هغه یې د اطاعت کولو په شرط هرات ته ولیږ، خود الله یارخان کورنۍ د دښمن اردو سره پاتې شوه. کله چې الله یارخان هرات ته راغی ذوالفقار خان ښار او حکومت ورکړ او خپله اسفزار ته ولاړ او هلته له سیدال خان ناصرې سره یوځای شو. سیدال خان له ذوالفقارخان او د اسفزار له نورو ابدالیانو سره یوځای کلیو ته ووتل او افغاني ایسار شوي یې د نادر افشار د ورور ظهیر الدوله په وړاندې پاڅول او په خپله کندهار ته ولاړ. شاه حسین یوځل بیا هغه له دوه زره نویو سرتیرو سره د فراه د ساتونکو مرستې ته ولیږ، خو ترڅو چې هغه فراه ته رسید، د هرات د ماتې خبر د الله یارخان په لاس را ورسید، نو ځکه په کلا کې د ایسار شویو مدافعینو زړه مات شو او کلا یې دښمن ته وسپارله. سیدال خان، ذوالفقار خان او الله یارخان ټول کندهار ته ولاړل. شاه حسین هوتکی ذوالفقارخان او د هغه کوچنی ورور احمد خان ابدالي دواړه بندیان کړل. الله یارخان ته هم په کندهار کې پاتې کیدل له ویرې ډک و، نو ځکه ملتان ته ولاړ او بیا هلته مړ شو، خو ذوالفقارخان او دده ورور وروسته بیا په ۱۷۳۸ کې د نادر لاس ته ولوېدل او مازندران ته تبعید شول. ذوالفقار خان په تبعید کې په زهرو مړ شو، خو دده ورور احمدخان یوځل بیا د سیاست په ډګر راڅرګند شو.

Scanned by CamScanner

په هرحال؛ وروسته له هغه څخه چې کله الله یارخان په ۱۷۳۱ کې بوخل بیا د هرات د حکومت مشرتوب ترلاسه کړ، د دښمن د تمی سره سره یې د ښار دروازې وتړلې او لـه دښمنّ سره یې د جګړی دوام اعلان کړ. نادر افشار چې پوره څلور میاشتې لـه افغانانو سره جګړه کړې وه او ډیر ستومانه شوی و. د الله یارخان په دې کار ډیر په غوسه شو، نو هوډ یې وکړ چی په هر ظلم سره چې کیږي، باید هرات ونیسي. نوځکه یې د کلابندی کړی کوچنی. او نوره هم کوچنی کړه او ډیر کلک یرغلونه یې بیا له سره پیل کړل. افغانان به کله نا کله له ښار څخه ورووتل او د دښمن د پوځ په ځینو خواوو به یې یرغلونه وکړل او بیرته به ښار ته ننوتل.

دغه ډول ډیر کلک یرغلونه د جبرائیل، سیاوشان، کورزان او پوزه کبوتر په سیموکی وشول. همدارنګه کله چې الله یارخان دوه زره سرتیري د (اوبه) د بیرته نیولو لپاره اوبې ته واستول. نو د اوبې خلک پاڅیدل او نادري سپاهیان یې له منځه یوړل او د اوبه کلایې د هغی له زیرمو سره یوځای دغو سرتیرو ته وسپارله. د هرات عسکرو دغه غله او خوراک هرات ته یوړل او د کلابندی له کړی څخه په زړورتیا سره تیر شول، خو نادر بوخل بیا لښکر وګوماره او د اوبه کلایې بیرته ونیوله. جګړه روانه وه، په ښارکی د غلی کاختي نوره هم زیاتیده. الله یارخان نادر ته یوه ډله خلک ورواستول او ورته ویې ویل: زما کورنی ستاسی په اردو کی ده که هغه راواستوئ زه به تاسی ته تسلیم شم. نادر چې په خپله هم زړور سړی و او د خپلو زړورو دښمنانو یې هم درناوی کاو، د الله یار غوښتنه یې ومنله او د هغه کورنی یې ورولیږله.

لله یار خپله ښځه ووژله، او د تسلیم کیدو پرځای یې پرهغه لښکرو یرغل وکړ چې ګازرګاه ته تللی وو. د ګازرګاه جګړه ډیره سخته وه الله یارخان ډیر تلفات ورکړل. په دې لړکی یوهم حمزه سلطان پوپلزایی و چې له خپل قوم سره د هرات د یوې دروازې ساتونکی و، د دښمن لاس ته ولوید. الله یار بیرته ښار ته راغی. حمزه سلطان نادر ته وویل چې که ته ما ونه وژنی، او خوشی می کړی، نو زه او زما پلویان به د ښار دروازه ستا پرمخ پرانیزو، خو نادر چې دغه جګړه ییز چالونه ډیر لیدلي وو، باور یې ونه کړ او ورته ویې ویل چې ستا پرځای به امان خان پوپلزی چې ما سره بندی دی خوشی کړم او بیا که چیری ستا په امر ستا پلویانو د ښار دروازه پرانیسته بیا به تاهم خوشی کړم، امان خان له همدې پیغام سره ښار ته ننوت، خو الله یار هغه ځکه وواژه چې رښتیایې ونه ویل، نادر هم چې وکتل چې دروازه نه پرانیستل کیږي، نو حمزه سلطان یې اعدام کړ او خپل یرغلونه یې بیا له سره پیل کړل. په دې توګه الله یار پنځه میاشتې نور هم مقاومت وکړ، خو نور نو په ښارکې دننه ژوند کول ناممکن و، لوږې ټول ښاریان، سرتیري او د رسالې آسونه له کاره وغورځول. دا مهال د هرات جرګې او نظامي لارښوونکو ته څرګنده شوه چې هرات یواځې دی او هرلوري ته تمه کول بی ځایه خبره ده. دوی د سر په سترګو ولیدل چې د سرانو غرضونو، نفاق او قومی شخړو په کومه اندازه د خلکو توان پاشلی او ددوی خپلواکی یې له زوال سره مخامخ کړی ده. شاه اشرف په ایران کې، ملک محمود په سیستان او خراسان کې د همدی لامل له مخی له پښو ولویدل او دا دی هرات نن او کندهار به سبا په همدې برخلیک اخته شي، حال دا چې په

Scanned by CamScanner

خپله خلکو د پردیو په وړاندې هرډول قرباني ورکړی ده. په دې توګه جرګې یو هیئت نادر ته ولیږاو د هرات تسلیم کول یې ورته وړاندې کړل. نادر هم ومنله چې په الله یارخان به کار نه لري او هغه به پرېږدي چې هرځای ته چې ځي هلته دې ولاړ شي. همدا و چې الله یارخان لومړی اسفزار ته، بیا فراه ته او بیا له هغه ځایه کندهار ته ولاړ. خو لاهم قومي شخړی په زور کې وې. شاه حسین هوتکي ذوالفقار بندي کړی و او الله یار یې پرینبود چې له خپل هیواد څخه ووځي او ملتان ته ولاړ شي او له سترګو یوې خوا ته شي.

نادر افشار وورسته تر یوولسو میاشتو جګړو او تر ډېرو تلفاتو وروسته په ۱۷۳۱ کې ښار ته ننوت. خو خلکو سره یې ښه چلند وکړ. له خلکو سره د نادر ښه چلند یوازې له دې امله نه و چې نادر په خپله د خراسان و او خراسان سره یې مینه وه، بلکې هغه یو تکړه جګړه مارو، هغه په هرات او ایران کې د افغانانو له جګړو څخه ډېر زیات اغیرمن شوی و، هغه مخکې په ټولو جګړو کې د ایران په ترکانو ډېره لګوله. خو له دې څخه وروسته یې په افغاني ځواکونو ډېره ولګوله او ویې غوښتل چې ددوی په مټ او مرسته پرهند او توران یرغلونه وکړي، نوځکه یې له افغانانو سره دښمني ونه کړه او عبدالغنی الکوزایي یې مخکې کړ او هغه یې د ابدالیانو د مشر په توګه وپیژاند. نادر د دغه جا طلب سړی په واسطه وکولای شول چې ډېر ژر یوه دولس زریزه سرتیرې لرونکې فرقه له ابدالیانو څخه جوړه کړي.

همدارنګه کله چې نادر کندهار ونیو، سره له دې چې غلجی دولت یې په ډېرې کلکی دښمني سره له منځه یووړ او غلجی یې د لویدیځ خواته په مهاجرت کولو اړ کړل، آن دا چې یوه اندازه ځمکې یې ابدالیانو ته ورکړي، خو بیایې هم له هغوی سره څه نا څه په روغی-جوړې کې چلند پیل کړ او له هغوی څخه یې هم یوه د څلور زرو تنو سرتیرو لرونکې نظامی قطعه جوړه کړه او نور محمد خان غلجیی یې د هغې قوماندان کړ چې هغه بیا په (میر افغان) باندې مشهور شو.

نادر د همدغو ابدالیانو او غلجیانو په زور د هند، ماورالنهر او عثمانی دولت په جګړو کې بریالی شو او تر داغستان پورې پرمخ ولاړ. هلته یې (سرخای خان لکزي) د ټول داغستان له لښکر سره یوځای وټکاو او د بغداد په جګړه کې هم همدا عبدالغنی خان الکوزایي و چې عثمانی سپهسالار سرتوپال پاشا یې په سوبې سره مات کړ او د نادر پښو ته یې وغورځاو. نادر په هغه باور سره چې پر افغانانو یې وکړ عبدالغنی یې د کندهار د والي په توګه وټاکه او احمدخان د نادر په اردو کې د ازبک د نظامی قطعاتو د افسر په توګه مقرر شو. د نادر همدې نژدیوالي او په افغانانو باندې اعتماد د ترکي او ایراني افسرانو غوسه وپاروله او له نادر سره دښمنان شول.

نادر د هرات له نیولو څخه وروسته خپل زوی رضا قلي مرزا د هغه ولایت حاکم کړ او په خپله ایران ته ستون شو. دا مهال د هرات بزګران د دښمن د پوځ د سیورسات او لوټ له لاسه له پښو غورځیدلي وو.

Scanned by CamScanner

## ټولنیز وضعیت

په اتلسمه پیړۍ کې د ماورالنهر د ازبکي دولت، د ایران د صفویه او د هندوستان د دولتونو په لاس باندې د افغانستان د ویش او ټوټه ټوټه کیدو څخه وروسته، په ختیځ کې خلکو اودې مبارزې د هندوستان د بابري دولت په وړاندې وکړې، بیا ورپسې په جنوب او جنوب لویدیځ کې د آزادي غوښتونکو غورځنګونو وار ورسید، دغه غورځنګ د یوه سیاسي انقلاب بڼه غوره کړه چې پایله یې د صفوي دولت پرځیدل او د ملي خپلواک دولتونو جوړیدل او د ایران نیول و، خو د دغه سیاسي انقلاب عمر (په ۱۷۰۹ کې د میرویس له پاڅون څخه نیولې بیا تر ۱۷۳۱ پورې یعنې د نادر تر واکمنې پورې) د یو ملت د تاریخي عمر په پرتله ډیر لنډ و چې ټول دیرش کلونه شول. البته په دغه دیرش کلن سیاسي انقلاب کې د هیواد په اقتصاد، کلتور او تمدن کې کوم انقلاب را نغي، خو په دغه لنډ موده کې ډیر بریالیتوبونه او ماتې خوړل ولیدل شول او افغانانو هر راز لوړې ژورې ولیدلې چې دا ټول د افغانستان د تیر سیاسي او ټولنیز تکامل او تګلورې پایلې وې، او همدا لوړې ژورې په افغانستان کې د یوه بل ستر سیاسي بدلون لپاره یوه پیلامه شوه؛ چې هغه په اتلسمه پیړۍ کې د افغانستان بیاځلي جوړیدل او دوباره ژوندي کیدل و. همدارنګه دغه بدلون د هیواد په ټولو ټولنیزو برخه کې ژوره اغیزه وکړه، په همدې خاطر د دغې دیرش کلنې لنډې مودې تاریخ د افغانستان په عمومي تاریخ کې د هغه یوه ډیره مهمه کړۍ بلل کیږي، او تر ډیره پورې یې د هیواد کلتوري او اقتصادي د تنزل او انحطاط تر خپلې اغیزې لاندې راوستې دي.

Scanned by CamScanner

# اتم
# افغانستان او د افشار دولت

د اتلسمې پیړۍ په لومړیو کې د ایران ټولنیز شرایط د یوه مرکزي دولت جوړېدو ته چمتوو. او دغه ډول مرکزي دولت د نادر افشار په لاس جوړ شو. نادر قلي د امام قلي پوستین ګنډونکي زوی و چې په ابیورد کې اوسېدل او په ۱۶۸۸ کې د خراسان د افشار قبیلې کې زیږېدلی و.
دغه سړی په داسې یوه کورنۍ کې راستر شو چې د خلکو په منځ کې اوسېدل، هغه زده کړې نه درلودې او بې سواده سړی و. د پلار له مړینې وروسته یې پوستینونه ګنډل، خو په اسوني خراسان باندې د ماوراالنهر د ازبکانو په یوه یرغل کې کله چې هغه اتلس کلن و له خپلې مور سره یوځای د ازبکانو په لاس بندي شو. مور یې به بندي توب کې مړه شوه. د هغې مړینې د زوی په تفکر او روحیاتو ژوره اغېزه وکړه او د هغه د انتباه لامل شوه نو د دښمن له اسارت څخه وتښتید او خپل اصلي ټاټوبي ته راغی. له دې څخه وروسته نادر څخه یوه ماجراجو.سړی جوړ شو چې ځینې وخت به یې کاروانونه هم غلا کول نوموړی چې یو زوړور او هوښیار سړی و، نو تل به یې د داړه مارانو مشري کوله. ده د سیمه ییزو فیوډالانو خدمت هم کاو. کله چې هغه د ابیورد له حاکم سره خدمت کاو د ازبکانو یوه داړه د خراسان پر ولایت راپیښه شوه، د خراسان خپلواک حاکم ملک محمود سیستاني د هغو په وړاندې دفاعي جګړه وکړه. د دغې جګړې په ګټلو کې نادر وځلید. نو کله چې د ابیورد سیمه ییز حاکم مړ شو، ملک محمود د ابیورد حکومتي کارونه نادر ته وسپارله او له همدې څخه وروسته د هغه نوم خپور شو، خو ملک محمود ډیر ژر په دې باندې وپوهید چې نادر کوم داسې سړی نه دی چې تل به د نورو په لومه کې وي، نو هوډ یې وکړ چې هغه له منځه یوسي. نادر چې دا حال ولید وتښتید او له خپلو ملګرو سره یې د کلات خان ته پناوور وړه.
دا مهال شاه طهاسب صفوي په دې لټه کې و چې د افغانانو په وړاندې یو لښکر جوړ کړي کله یې چې د نادر د زړورتیا کیسې واورېدې، هغه ته یې په خپل اردو کې د منل کیدو او خدمت کولو وویل. نادر لومړی د کلات خان وواژه او ښځه یې ورڅخه بوتله او یوه غټه ډله یې جوړه کړه، بیا نو د طهاسب خدمت ته ورغی. د نادر کړو وړو د نادر د اردو پام ده ته راواړاو او په لښکر کې په ټولو ګران شو. هغه ډیر ژر د ملک محمود په وړاندې یو لښکر چمتو کړ او ډیر ژر یې د شاه طهاسب صفوي تر نوم لاندې په ۱۷۲۲ کې په نیشاپور باندې یرغل وکړ او هغه ښار یې ونیو. وروسته یې بیا تر ۱۷۲۷ پورې د مشهد، نیشاپور او سیستان ټول ولایتونه له ملک محمود څخه ونیول او په خپله هغه یې هم مړ کړ. د نادر دغو ټولو بریاوو هغه د شاه طهاسب د لښکر په سرکې د سپهسالار په توګه وټاکه او نوم یې په ټول خراسان

Scanned by CamScanner

او ایران کې مشهور شو شاه طهاسب هم بله لاره نه درلوده نوځکه ددې خواکمن سړي په مونې کې د یوې وسیلې په توګه پاتې شو. داځکه چې طهاسب فقط یو شهزاده و چې د یوه وروسته دربار په یوه اشرافي چاپېریال کې را ستر شوی و. خو نادر د خلکو په منځ کې رالوی شوی و چې د ژوند ډېرې سړې-تودې یې لیدلې وې، زیاتې تجربې یې ترلاسه کړې وې او لویه نقشه یې په سر کې وه.
کله چې نادر په ۱۷۲۷ کې په خراسان او استرآباد کې پښه ټینګه کړه. نو له دې امله چې له ختیځ او لویدیځ لوري څخه د دوو غلجایي او ابدالي قوتونو ترمنځ راګیر و. نو لومړی یې هرات ته پام واړاو هغه تر ۱۷۲۸ پورې د پرله پسې جګړو په ترڅ کې ابدالي حکومت د بیطرفۍ په حالت کې ساتلی و، بیایې خپله پاملرنه په ایران کې د غلجایي دولت لوري ته واړوله او په ۱۷۲۹ کې یې غلجایي دولت په درنو جګړو سره وپرځاو. بیایې مخ هرات ته واړاو او تر ۱۷۳۱ پورې یې د ابدالیانو حکومت رنګ او هرات او فراه یې دواړه ونیول. وروسته یې ایران ته مخه کړه او په ۱۷۳۲ کې یې عثماني دولت سره د ایران د آزادولو لپاره جګړه پیل کړه. هغه په دې جګړه کې بریالی شو او د توري په زور یې عراق او آذربایجان هم ونیول. خو په خپله شاه طهاسب د همدان په جګړه کې له عثمانیانو څخه ماتې وخوړه، نوځکه یې د یوې معاهدې له مخې کنجه، تفلیس، ایروان، نخجوان، شماخه او داغستان هغوی ته ور پرېښودل، داځکه چې هغه له پخوا عادت شوی و چې د هیواد بیلابیلې برخې په آساني سره بهرنیو هیوادو ته ورپرېږدي. کله چې نادر دا حال ولید شاه طاسب یې له سلطنت څخه خلع کړ او د هغه یو کلن ماشوم زوی عباس یې هسې په نوم د هغه پرځای کیناو او په خپله ځان یې نایب السلطنته اعلان کړ. بل خل یې پام عثماني ترکیې ته واړاو. سره له دې چې نادر د کرکوک په جګړه کې د عثمانیانو له خوا په ۱۷۳۳ کې له ماتې سره مخامخ شو خو په بل ځل جګړه کې یې د دجلې تر غاړې (بغداد کې) هغه دولت ته ماتې ورکړه. وروسته بیا په ایروان کې هم پر هغوی باندې بریالی شو. په دې توګه هغه تر ۱۷۳۵ پورې د ایران له لاسه وتلې ټول ولایتونه د ارمنستان او ګرجستان په ګډون بېرته ونیول او ایران سره یې وتړل، ده له عثماني دولت سره سوله وکړه. د همدغو جګړو په ترڅ کې افغاني لښکرو د نادر په پلویتوب په زړورتیا سره فعالیت وکړ.
نادر د دغه بوختیا وو په ترڅ کې له روسیې سره هم په تماس کې و او په ۱۷۳۲ او ۱۷۳۵ کلونو کې یې د دوو تړونونو په لاسلیک کولو سره د دغه دولت لاس له ایران څخه ورلنډ کړ او د خزر د سمندر ساحلي ولایتونه او دربند او باکو یې پرته له جګړې څخه ونیول. کله چې نادر د ایران له سیاسي یووالي څخه ډاډه شو، په ۱۷۳۶ کې یې د خراسان د مغان په دښته کې یوه لویه جرګه د هیواد د فیوډالانو، دولتي مامورینو او نظامي افسرانو په ګډون جوړه کړه او د پاچا د ټاکلو خبره یې پکې را واچوله. البته ټولو په خپله همدې د پاچا په توګه ومانه، خو نادر چې یوشمیر نورې نقشې له ځان سره درلودې، د سلطنت منل یې یوشمیر شرایطو پورې وتړل. نادر غوښتل چې افغانستان او ایران دواړه د یوې ادارې او یوه مرکزي دولت لرونکې شي، نو هغه چې په اصل کې د خراسان و نو غوښتل یې چې خراسان خپله پلازمېنه وګرځوي، ده اصفهان پرېښود چې د ایران پلازمینه وه، پرځای یې مشهد غوره کړ، همدا خبره جرګې هم

Scanned by CamScanner

ورسره ومنله. همدارنګه نادر په دې باندې پوهید، چې د افغانستان اکثریت خلک د حنفي مذهب غوښتونکي دي، نو غوښتل یې چې همدا مذهب دې په دواړو هیوادوکی واحد او رسمي مذهب وي، داځکه چې هغه د ایران او افغانستان ترمنځ د مذهب توپیر د دواړو ترمنځ د اختلافاتو لامل باله. د مغان جرګې د نادر دغه شرط هم ومانه، په دی توګه افشار نادر د نادرشاه په نوم وپیژندل شو او د پاچا په توګه اعلان شو.

له دې څخه وروسته نادر افغانستان ته مخ راواړاو او په ۱۷۳۷ کی یې له یوه بشپړ لښکر سره په کندهار یرغل وکړ او یو بل لښکر یې د خپل زوی رضا قلی په مشرتوب د افغانستان شمال ته واستاو. تر ۱۷۳۸ پورې یې د کندهار حکومت وپرځاو او رضا قلی هم د افغانستان شمالي ولایتونه له بلخ څخه نیولې تر مرو پورې ترخپل واک لاندې راوستل او د بیلابیلو تیت او پرک سیمه ییزو ځواکونو څخه یې واک ترلاسه کړ وروسته له دې څخه نادر له کندهار څخه د افغانستان مرکزی او ختیزو سیمو ته راغی. دا مهال د کابلستان حکومت له شیرخان سره او ختیزې برخې د هندوستان د بابري دولت له حاکم ناصرخان سره وې. شیرخان غوښتل چې مقاومت وکړي، خو له ماتې سره مخامخ شو. له غزني څخه نیولي تر کابل، جلال آباد او پېښور پورې خلکو د هند له بابري دولت څخه ملاتړ ونه کړ، ځکه چې دوی له بابری دولت څخه کرکه درلوده. له دې پرته دوی لیدل چې د نادر د پوځ په سرکې افغاني غلجي او ابدالي راروان دي، په دې توګه نادر ډیر په آسانۍ سره تر جلال آباد پورې ورسید او د روغې جوړې او سوغاتونو په لیږلو سره یې د افغاني قومونو مشران پخلا او اپریدی او شینواریی هم را خپل کړل. وروسته یې بیا له همدوی څخه نظامی کنډکونه جوړ کړل او د خیبر له درې څخه هم تیر شو. په پېښور کی د بابری دولت ساتونکو ځواکونو پرته له مقاومت څخه بله لاره نه درلوده، نوځکه نادر په آسانی سره د پنجاب تر پلازمینې لاهور پورې ورسید. نور نو د هند د مشهور شاهنشاه هغه ځواک چې د بابر همایون، اکبر، جهانګیر، شاه جهان او اورنګزیب پرمهال و، د اورنګزیب له پاچاهی وروسته نه وپاتې. اوس محمد شاه هسی په نوم او په ظاهره د هند پاچا و. نادر افشار له ستلیج څخه په تیریدو سره له لاهور څخه د هندوستان د پلازمینې په لورې ولاړ او هلته یې په ۱۷۳۹ کې د (کرنال) په سیمه کې د بابری دولت ساتونکي ځواکونه له ماتې سره مخامخ کړل او په دې توګه د هند پلازمینې ته داخل شو. په دې توګه د هند د خلکو پر وړاندې د هند د امپراتوري وروستی حیثیت له منځه ولاړ، دا په داسې حال کې چې هیڅ یوه فیوډال او صوبه دار د امپراتور له تاج څخه دفاع ونه کړه.

سره له دې چې د هندوستان پاچا محمد شاه تسلیم شو او خپله لور یې هم د نادر زوی نصرالله ته ورکړه. په ډیلي کی داسی ګونګوسی واوریدل شول چې نادر مړ شو. ډیلي څپاند شو او خلکو پاڅون وکړ. نادر اته ساعتونه د خلکو په وړاندې تورې وچلولې او ټول ښاریې لوټ کړ او ۵۸ ورځې وروسته یې سلطنت د هند تسلیم شوي پاچا ته ور پریښود او د افغانستان په لوري را روان شو او له ځان سره یې د ځومیلیونه سروزرو، ګاڼو او قیمتی شیانو شتمنۍ، د کوه نور الماس او د هندوستان له بډایې او لوټل شوي پلازمینی څخه یې د تاووس تخت له ځان سره راوړل. نادرشاه افغانستان ته د راتګ پرمهال دومره

Scanned by CamScanner

شتمن شوی و چې د خپل راتګ پرمهال یې د خیبر په دره کې یو میلیون روپۍ د خیبر او سیدونکو افغانانو ته ورکړې او بیا خپله کابل ته راغی. نادر له کابل څخه د پکتیا په لاره یوځل سند ته ولاړ او هغه ځای یې هم خپل ځان ته تابع کړ داځکه چې هغه د سند والی نور محمد خان کابل ته را غوښتی و، خو هغه سرغړونه کړې وه، نوځکه نادر په هماغه کال (۱۷۳۹کې) د ګردیز، کرم، اسمعیل خان دیرې او غازي خان دیرې له لارو څخه مخ په سند ورغی، نور محمد له جګړې او تیښتې څخه وروسته تسلیم شو. نادر له هغه څخه یو میلیون او دوه لکه روپۍ نغدې او د هغه یو ګرانبیه کتابتون ترلاسه کړل او د میر زامن یې هم ورڅخه یرغمل کړل. له هغو غنیمتونو څخه چې نادر له سند څخه ترلاسه کړل. له هغه څخه یې خپل هر لوی افسر ته پنځه سوه اشرفۍ او کوچنیو افسرانو ته سلو څخه نیولې تر درې سوه پورې ورکړې او د لښکر سرتیرو ته یې هر یوه ته دوه دوه اشرفۍ ورکړې. هغه مهال یوه اشرفۍ ۲۴ روپۍ کیدې.

په ۱۷۴۰ کې نادر له جیحون څخه بورې وت او تر بخارا پورې ورسید خو د بخارا امیر پرته له جګړې څخه تسلیم شو او خپله لور یې د نادر وراره علی قلي ته ورکړه او د یوی ژمنې په توګه یې دا ومنله چې د دواړو دولتو ترمنځ پوله به لکه د پخوا په شان د آمو سیند وي. له دې څخه وروسته نادر بیرته راستون شو او خوارزم ته ولاړ، خو د خیوې خان مقاومت وکړ، خو په جګړه کې د نادر په لاس ووژل شو، نادر په خیوه کې په خپل استازیتوب یو حاکم وټاکه او خپله مشهد ته ولاړ. په خیوه باندې د هغه د حاکم واک دوام ونه کړ، یو کال وروسته د پخواني ازبک حکمران کورنۍ بیرته پرخیوه واکمنه شوه. له ۱۷۴۰کال څخه وروسته نادر د کورنیو چارو په سمبالولو بوخت شو. یو کار چې هغه دا مهال وکړ دا و چې د یوه انګریز ترلارښوونې لاندې یې یوه سمندری قوا جوړه او د خزر په سیمندرګي کې یې یو شمیر بیړۍ جوړې کړې او د پارس په خلیج کې یې یو لنګر ځای جوړکړ کله چې نادر پورتنۍ سوبې وکړې نوځان ورته د خپلې سیمې اتل ښکاره شو او ډیر ډاډمن و او له بلې خوا د خپل پراخ واک او ځواک د پیدا کولو له امله ډیر ظالم شو، خو له دې څخه خبر نه و چې ددغی ظاهري آرامي لاندې توپان ویده دی او کیدای شي زیانمن شوی طبقات مخالفت پیل کړي او خلک د هغه د ظلم له لاسه او د فیوډالانو د فشار له امله باڅون وکړي.

ترټولو زیات شیعه مذهبه روحاني قشر چې خپلی ګټې له لاسه ورکړې وې د نادر په وړاندې را پاڅیدل او خلک یې د سنی مذهبه نادر په وړاندې ولمسول، ځومره چې نادر هغوی غلي کول هغوی نورهم زور اخیست. همدارنګه هغو ځواکمنو فیوډالانو چې خپلې سیمه بیزې ملکو الطوایفی له لاسه ورکړې وې، له مرکزی دولت او نادر څخه خوښ نه و، له بلې خوا نادر د قزلباش افسرانو پرځای افغاني لښکر ته ډیره پاملرنه اړولې وه نوځکه ازبک او قزلباشان هم ورڅخه ناخوښه وو. همدا لامل و چې مرکزی دولت له ګواښ سره مخامخ شو. له هغه مهاله چې په ۱۷۳۲ کې نادر خپل سلطنت اعلان کړی و او حنفی مذهب یې خپل رسمی مذهب پیژندلی و نو د ایران بختیاری ځواکمن قبایل د هغه په ضد شوي وو او نادر هغوی د توري په زور غلي کړي وو. هغه مهال چی نادر د هند په سفرکې و، د داغستان لزګي قوم

Scanned by CamScanner

پاځیدلی و او د نادر ظهیرالدوله ابراهیم خان یې وژلی و. نادر اړ شو چې د لښکر په لیږلو سره دغه اړ دوړ کرار کړي. کله چې نادر په ۱۷۱۴ کې د مشهد په نیت له شیروان څخه د مازندران په لاره کې و، له یوه ځنګل څخه د ټوپک ډز ورباندې وشو. دغو نا معلومو خلکو هغه په مټ باندې ټپي کړ. وروسته بیا د شیروان او پارس خلکو د ایران یوشمیر ښارونو کې بغاوتونه پیل کړل.

په ۱۷۴۴ کې د کرمان یوه اسیدونکي ځان د شاه حسین صفوي ورور وښوده او د هغه په ځای د کیناستو دعوا یې وکړه. هغه له عثماني دولت څخه مرسته وغوښته. دغه خبره د عثمانیانو لپاره بهانه شوه، نو ځکه یې له نادر سره جګړه پیل کړه. عثمانیانو د ایران په کورنیو چارو کې لاسوهنه پیل کړه. روسانو هم په داغستان کې همدا کار پیل کړ او پاځون کوونکي لزګي قوم یې د ځان خواته واړاو. مخالفو فیوډالانو او روحانیونو هم، د خلکو له دغې نا رضایتي ګټه پورته کوله او روحانیونو د سلطنت د کورنۍ دننه هم لاس غځولی و او رضا قلي یې هم د خپل پلار په ضد شکمن کړی و او په سیستان کې یې د هغه وراره علي قلي ولمساو.

نادر ددې ټولو په وړاندې له زور څخه کار واخیست یو ځل د عثمانیانو له بهرنی ځواک سره په جګړه شو او بری یې ترلاسه کړ او بیا یې کورنۍ اړ دوړ د تورې په زور آرام کړ، هغه په دې اقدام کې ډیر زیاتی وکړ او ګڼ شمیر ښاري او کلیوالي خلک یې ووژل. د کرمان خلک یې قتل عام کړل او په مشهد کې یې هم د خلکو له سرونو څخه ځلي جوړ کړل، په دې توګه ښځې او نر ټول ناخوښه شول. دغه پیښو د نادر اعصاب ګډ وډ کړل او له طبیعي حالت څخه واوښت آن دا چې په ډیره لږ تیر وتنه یې خپل زوی او ولیعهد رضا قلي ړوند کړ چې وروسته بیا پښیمانه شو او د خپل اظطراب د آرام کولو په خاطر یې ټول هغه کسان ووژل چې د رضا قلي د ړندولو په ورځ د هغه د شفاعت لپاره نه و را پاځیدلي، حال دا چې هغوی په هغه ورځ د نادر د غوسې له ویرې شفاعت نه و کړی. له همدې ورځې څخه وروسته نادر لکه د شاه محمود هوتکي په شان د خپل مرګ تر ورځې پورې په عصبی جوش کې ورځې تیرولې، آن دا چې په وروستیو ورځو کې یې وغوښتل چې د خپل پوځ ټول قزلباش افسران او فیوډالان ووژني او غوښتل یې دا کار د پوځ د افغاني افسرانو په لاس ترسره کړي، خو دا مهال قزلباش او افشاري افسران ډیر ورته ځیرو (لکه محمد قلي خان کشیک چي چې د شاهي حرم ساتونکی و، محمد خان قاجار، موسی افشار، فوجه بیګ اروميي، صالح خان ابیوردی او اویا تنه داوطلب مخالفان) دوی ټولو په هغه شپه باندې چې نادر د قوچان د سیمې په فتح آباد کې شپه تیروله هغه مړ کړ (۱۷۴۷). په دې توګه د هغه ټوله شتمنی یې هم لوټ کړه، خو بیاهم افغاني او ازبک افسرانو د هغه د لښکر ډیره شتمنی وساتله. له همدې امله د نادر کورنۍ او حرم د افغانانو ددغه ننګ په وړاندې د کوه نور الماس د ابدالي او ازبکو قطعاتو قوماندان احمدخان ابدالي (احمدشاه) ته سوغات کې ورکړ.

کله چې نادر ووژل شو او افغانان کندهار ته راغلل، نو خراسان او ټول ایران کې اړ-دوړ پیل شو، په ایران کې محمد حسین قاجار د خزر تر غاړ، آزاد خان غلجایي په آذربایجان کې، هیرا کیلوس په ګرجستان کې ابوالفتح او علیمردان (چې یوبل سره سیالان وو) په اصفهان کې او د زندو قبیلې مشر

کریم خان د ایران په جنوب کې د خپلواکي اعلان وکړ او یوبل سره په جګړه اخته شول دغه د ملوک الطوایفی ګډوډي لس کاله رواني وې او په پای کې کریم خان زند وکولای شول چې په ۱۷۵۷ کې نور له منځه یوسي او خپله په ایران کي یو مرکزی حکومت ټینګ کړي نوموړی د ایران یو مدبر پاچاو چې د مړینې تر ورځې پوری (۱۷۷۸) یې لکه د میرویس خان هوتکی به شان د پاچاهي نوم پرخان باندی نه کېښود، یوازې یې امارت وکړ. خلکو هغه ته د (وکیل الرعایا) نوم ورکړ. خو دده له مړینې وروسته بیرته ایران د فیوډالانو د خان غوښتنی او واک غوښتنې ډګر وګرځید. سره له دې چې لطف علی خان زند شپږ کاله نور د نورو په پرتله په هسکه غاړه د واک پرګډی کیناست. خو نو نور مرکزی حکومت له منځه تللی و. په دې ترځ کې یو مقطوع النسل او ډیر ظالم سړی چې آقا محمدخان قاجار نومید. په خپلو نورو فیوډالو سیالانو بری وموند او په ۱۷۹۴ کال یې د توري په زور د قاجاریان د پاچاهي لړۍ په ایران کی راونښلوله. همدغه پاچا په کرمان کې د انسانانو څلوېښت زره سترګې حواله کړی، نوځکه شل زره کرماني وګړو خپلې سترګې له لاسه ورکړې او ښځې یې د قاجاري لښکر سرتیرو ته ورکړل شوې او کرمان د ړندو په یوه افسانوي ښار بدل شو. هدارنګه نوموړی د تفلیس خلک ټول ووژل، خو په خراسان کې د نادر له مړینې وروسته په ۱۷۴۷ کې د هغه وراره علی قلی چې د سیستان حاکم و، په مشهد کې د عادلشاه په نوم خان پاچا اعلان کړ او د کلات کلا یې د سرو او سپینو زرو له څلویښت میلیونه سکو او ګانو سره ترلاسه کړه. علی قلی د نادرشاه د یوه څوارلس کلن لمسی شهرخ څخه پرته د خپل تره پنځلس تنه ټول اولادونه ووژل. د علی قلي ورور ابراهیم چې د عراق حاکم و د خپل ورور په ضد پاڅید، هغه یې ړوند کړ او ځان یې پاچا کړ. خو خلک پاڅیدل او دواړه ورونه یې اعدام کړل او شهرخ یې پاچا کړ، په دغه اړ دوړکی یو روحاني چې د مشهد متولی او سید محمود نومید او په خلکوکی پیژندل شوی سړی و پاڅون وکړ، شهرخ یې بندی او ړوند کړ او په خپله یې ځان د سلیمان شاه په نوم پاچا اعلان کړ، خو د جلایر خانانو (یوسف علی او زال خان) د هغه پاچاهي ونه منله او هغه یې را وپرځاو او ړوند شهرخ یې هسی په نوم پاچا کړ. په دې توګه شهرخ او ددولت چارې د سیالو فیوډالانو لوبه شول او د امیرعلم خان خزیمه، جعفرخان کرد او بهبودخان مروی په نومونو فیوډالانو د حکومت چاری په لاس کې واخیستی. او واک له یوه څخه د بل لاسه ته لوید. دغه وضعیت په خراسان کی روان و، ترڅو چې ابدالي احمدشاه خراسان ته ورغی او ولایتی حکومت یې په نوم سره شهرخ ته خو په عمل کې نور محمدخان افغان ته ورکړ او د خراسان د حکومت نایب یې کړ. په دې توګه خراسان یوځل بیا افغانستان پورې وتړل شو.

Scanned by CamScanner

# دولسم څپرکی

# افغانستان له اتلسمي پېړۍ څخه تر شلمي پېړۍ پورې

## لومړی
## ابدالي دولت او د افغانستان بیا جوړیدل

### ابدالي احمدشاه (۱۷۴۷ – ۱۷۷۳)

په کندهارکې د فیوډالیزم پرمختیا او د بهرنیو په وړاندې د خلکو اوږدو مبارزو په افغانستان کی د یو قوی مرکزی دولت جوړیدو ته لاره هوره کړه او د احمدشاه تر مشري لاندې ابدالي دولت تأسیس شو احمدشاه د خپل پلار زمانخان د مړینې په کال د هرات په ښار کې وزیږید (۱۷۲۲). له دې امله چې د ده پلار سیال محمدخان ابدالي د هرات حاکم شو، نو د احمدشاه مور له خپل زوی سره یوځای فراه ته راغله له هغه څخه وروسته د خراساني نادر شاه تر واکمن کیدو پورې احمدشاه د خپل ورور ذوالفقارخان په هیڅ ډول سیاسی او یا نظامی چارو کې لاسوهنه ونه کړه. له هغه څخه وروسته نوموړی له خپل ورور سره یوځای د کندهار د غلجایي پاچا (شاه حسین) دربار ته ورغی او هلته د سیاسی بندیانو په توګه پاتی شول. کله چې نادرشاه په ۱۷۳۷ کې کندهار ونیو، ذوالفقار یې د ایران مازندران کې تبعید کړ او هلته یې په زهرو مړ کړ. احمدشاه په مازندران کی پاتی شو چې دا مهال شل کلن و او د نادرشاه دربار ته ورسید. نادرشاه هغه د خپلو افغانی پوځیانو د افسرانو په ډله کی ومانه. کله یې چې د هغه پوهه، اخلاق او کفایت ولید، نو د ټولو افغانی او ازبکو قطعاتو د قوماندانی چارې یې ده ته وسپارلې. له دې څخه وروسته د نادر تر مړینې پورې احمدشاه د هغه په دربار او پوځ کی پاتې شو.

په دغه موده کی د احمدشاه کړه وړه او خبرې د نادرشاه او د هغه افغانی پوځ د اعتبار وړ وګرځیدې. د نادرشاه د وژل کیدو پر مهال احمدشاه ۲۵ کلن و.

په دغه موده کې هغه د ژوند بیلابیلی پانې ولیدې، یعنی هم یې د بندی توب بدې ورځې، هم یې د تبعید سپکاوی او هم یې د قوماندانی پرتم ټول یې ولیدل او د خلکو له بیلابیلو طبقو سره یې وپیژندل او هغوی سره آشنا شو او په کندهار، هرات، خرسان او ایران کی یې په خپلو سترګو د افغانی دولت

لوړی ژوری، پریوتل او اوچتیدل ټول ولیدل دغو ټولو پېښو د هغه په فکر او ذهن کې اغیزه وکړه او په اخلاقو او طبع کې یې توازن او پوخوالی راوست په عین وخت کې احمدشاه تحصیل نه هم دوام ورکړ او په دري او پښتو ژبو کې د سواد خاوند شو. آن دا چې په پښتو ژبه یې شعرونه لیکل هغه له فزیکي پلوه پیاوړی او متناسب الاعضا او یو ډیر زړور د سپاهیانو مشر او پوخ آس ځغلوونکی و. کله چې خراساني نادرشاه ووژل شو په لوی پوځ کې درزونه پیدا شول. افغاني لښکر چې څلور زره غلجي او لس زره ابدالیان او ازبک پکې وو د خپل عمومي قوماندان نور محمدخان غلجایي او احمدخان ابدالي په لارښوونه مخ په کندهار راغلل کندهار چې د افغانستان بین الاقوامي مرکز و. نور محمدخان غلجیو، ازبکو، ابدالي، هزاره او بلوچو او تاجیکو خانانو او مشرانو ته وړاندیز وکړ چې یوه جرګه جوړه کړي او خان ته پاچا وټاکي. دغه جرګه د ۱۷۴۷کال په اکتوبر کې د شیرسرخ د مزار په ودانۍ کې د نادرآباد د نظامي کلا دننه جوړه شوه چې نهه ورځې روانه وه. ددغو غونډو په ترڅ کې د رایو یووالي امکان نه درلود. داځکه چې موضوع ډیره مهمه وه او هر زورور خان ځان ته پاچاهي غوښتله، خو نورو سیال خانانو لکه نور محمدخان غلجایي، محبت خان پوپلزایی، موسی خان اسحق زي، نصرالله خان نورزایی او نورو یوبل نه منل. یواځې هغه چاچې په دغه جرګه کې د خپل ځان په هکله خبره نه کوله هغه احمدخان ابدالي و. داځکه چې د هغه قوم سدوزي و او د شمیر له پلوه یوځه لږوو. سره له دې چې د هغه نیکه دولت خان یووخت د ابدالیانو مشرو او پلاریې زمان خان د هرات د ابدالي حکومت مشرو. خو د غلجایي او ابدالي خانانو اختلاف چې یوبل یې نه منله یو تشیال رامنځته کړی و چې باید هرو مرو ډک شوی وای، په دې توګه په پای کې د جرګې په نهمه ورځ، ټولو لوریو د جرګې یو غړی د حکم (قاضي) په توګه غوره کړ او پریکړه وشوه چې هرڅوک چې هغه غوره وبولي، نو هغه ته به ټول بیعت وکړي. حکم یو روحاني شخص و چې هیڅ قبیلې پورې نه و تړلی او آن دا چې د کندهار هم نه و چې هغه صابرشاه کابلي و. نوموړی د کابل و او د یوه صوفي سړي یعني استاد لایخوار زوی و چې د کندهار ټولو خلکو هغه ته ارادت، درناوی او په هغه یې باور درلود. دغه سیاست پوه صوفي پاڅید او ابدالي احمدخان یې د پاچا په توګه غوره کړ او د غنمو وږی یې د تاج او خول پرځای د هغه په پټکي کې و ټومبه. لویو فیوډالانو که غوښتل او که یې نه غوښتل، بیعت کولو ته اړ او ددغه ځوان سلطنت یې ومانه.

په دې توګه ابدالي احمدخان د احمدشاه په نامه سره د هیواد پاچا شو. احمدشاه وروسته تر پاچا کیدو څخه دا ثابته کړه چې د هیواد په کورنیو پیښو او د هیواد له شاوخوا پیښو څخه ډیر ښه خبر او په سیاسي او نظامي خبرو پوه دی او هم کولای شي چې له دغو وضعیتونو څخه د افغانستان په ګټه کار واخلي. کورنی شرایط او د هیواد شاوخوا وضعیت هم په افغانستان کې د یوه خپلواک دولت جوړیدو ته برابر وو. د هیواد دننه مالدارانو او بزګرانو یعني د ملت اکثریت وګړو او ښاري او پیشه وري طبقې ټولو د اوږدو کلونو په ترڅ کې د ملک الطوایفي اداري او پوځي اخ ډب په ترڅ کې ډیر ملا ماتوونکي مالیات ورکول او د درندو ګمرکاتو او سیور ساتونو له امله ټوک ټوک شوي وو او د یوه ځواکمن مرکزي دولت او بشپړ امنیت غوښتونکي وو. د هیواد لویدیځ، ختیځ او جنوب کې هم کلونه کلونه

Scanned by CamScanner

خلکو د بهرنیانو د ښکیلاک پرضد او د ملي خپلواکي د ترلاسه کولو په خاطر مبارزه کړې وه او دا ین اوس د یوه ملي دولت د پیاوړتیا او جوړېدو لپاره او د بهرنیانو په وړاندې د خپلواک حکومت جوړېدو ته چمتو وو. د هیواد مرکزي سیمې او هزاره جات تر نورو سیمو لازیات د فیوډالی او ملوک الطوایفي نظامونه تر پښو لاندې شوي وو او ددغو سیمو ځواکمنو فیوډالانو په بزګرانو، مالدارانو او رعیت باندې لازیات زور او واک چلاو. نوځکه له یومیلیون څخه زیاتو خواریکښو او زیار ګالونکو هزاره ګانو چې د چنګیز له یرغل څخه نیولې تردې مهال پورې د کورنیو او بهرنیانو زور واکو ظلمونه ګاللي وو او د لرګیو اربابانو، روحانیونو، میرانو او بیګانو د تفریح، عیاشی او اعاشې لپاره یې زیار او رنځونه ګاللي وو، نوي دولت ته هر کلي ووایه او دوی د سیمې د واکمنو فیوډالانو اطاعت کاو او هغوی ته یې مالیې ورکولې. خو سیمه ییزو فیوډالي ملک الطوایفی تل د افغانستان له مرکزی دولت څخه سرغړونه کوله او مرکز ته یې مالیه نه ورکوله او د خپلې سیمه ییزه واکمنی د ساتلو لپاره یې د نولسمې پیړۍ تر پای پورې د مرکزي دولت په وړاندې کلک مقاومت کاو او همدوی خپل خلک په نورو سیموکې له راغلو پرمختګونو څخه بې برخې ساتلي وو. وروسته بیا نورو اقتصادي عواملو، بیوزلي، او د مرکزي دولتونو سیاسی فشارونو ددغه انجماد او ځنډ عمر د شلمې پیړۍ ترپیل پوری په ټپه دورلی و، حال دا چې همدغه د افغانستان زیار ګالونکي او کلک خلک وو چې د چنګیز بشری قوت یې خپل ځان کی حل کړ او له مغلو څخه یې د وینې د ګډوالي سره سره هغوی را جلاکړل او نور نو نه خالص مغل پاتی شول او نه هم مغلی ژبه. په مرکزی افغانستان کی دا یوه هم پاتې نه وه. همدارنګه په دوهمه درجه کې د افغانستان شمالي ولایتونو خلکو هم د فیوډالی نظام ظلم زغملی وو.

خو د افغانستان ترځنګ ایران د نادرشاه خراساني له مړینې وروسته د کورنی اړ دوړ او ملوک الطوایفی په ګرداوکی ډوب شو او نور یې نشو کولای چې د ګاونډیو هیوادونو په چاروکی لاسوهنه وکړي به بخارا او ماورالنهر کی هم نور نو جنیدی دولت مخ پر ځوړ و او په بیلابیلو سیموکی یې فیوډالانو او اشراف خپلواک شوی وو، آن دا چې په پلازمینه بخارا کی هم اشرافو او فیوډالانو په خپل سر ډنګوله. د بخارا جنیدي دربار د تخت او تاج له نویو مدعیانو سره مخامخ شوی و. د احمدشاه ابدالي د پاچاهي شپږ کاله نه و تیر شوی چې محمد رحیم خان مدعی د عبدالله خان ثانی جنیدی په ځای کیناست او پنځه کاله وروسته جنیدی وروستی پاچا عبدالعزیز وکولای شول چې د خپلې سلسلې پاچاهي بیرته ترلاسه کړي. د خوارزم سیاسی وضعیت له ماورالنهر څخه هم بد و او د اشرافو غرضونه پکې چلیدل او د احمدشاه له ظهور څخه مخکی خانان یو په بل پسی لاړل او راغلل او له څلوېښتو کالو څخه په کم وخت کې په خوارزم کی لس پاچایان یا ووژل شول یا هم تبدیل شول، نوځکه یې په کوم بل هیواد د یرغل کولو فرصت نه درلود. په جنوبی هندوستان کې د اورنګزیب د سلطنت پر مهال د «سیواجي» په مشرتوب د مرهټه «مرتهه» حکومت جوړ شوی و، چې د اورنګزیب له مړینې وروسته ځواکمن شوی و او د دیرشو کالو په ترڅ کې د هند د ټولې ټاپو وزمې واکمن ګرځیدلی و، نو په دې توګه د هند بابری دولت نور نه شو کولای چې په افغانستان باندی لکه د پخوا په شان زور راوړي. په تیره بیا کله چې په شمال کې ورته

یو مخالف او نوی ځواک (سکه) رامنته شوی و. محمدشاه هسې په نوم د هندوستان شهنشاو. د هغه لوی والیان په اوده، بنګال، حیدرآباد، دکن، کرناټک او نورو ځایونو کې ټول خپلواک وو. دوی یواځې یوڅه خراج پلازمینې ته ورکاو. نوابانو هم په نوم سره ځانونه د لویو والیانو مادون بلل او بس (لویو والیانو ته صوبه دار ویل کیدل).

د همدغی وضع په منځ کی په هند کې یو بل خطرناک ځواک هم و چې لکه د یوه اختاپوت (اته پښی لرونکی ځناور) په شان له سمندرونو څخه راپوری وتی و او د هند ترغاړو رارسیدلی و. دغه ناپیژندلی ځواک چې د یوڅه پرمخ تللی علم او فن او وسلو لرونکی او حرص او تاوتریخوالی هم ورسره و. ورو ورو خو په ژوره توګه ځان د بډای او لوی هند په شریانونو کی ځایاو. خو هندیانو لاهغوی یواځی د سوداګرو په صفت پیژندل. افغانانو هغوی د (بساری او هتیوال) په صفت پیژندل. دا هماغه لویدیځ بنګیلا ګګروو چې د هند د ټولو ملی ځواکونو او د هغو د شتمني د ویش او د هغوی ترمنځ د نفاق غوښتونکي وو.

همدارنګه یو بل ځواک هم په هندکی و چې هغه د هند په دربارکې د افغانانو سیاسی او نظامی نفوذ او په ولایاتوکې ددوی لوړ دریځ و. د دهلی به دربارکې نجیب الدوله افغان (نجیب یوسفزایي) یو مقتدر افسرو. همدرانګه د کترا، فرخ آباد او ملتان په ولایتونوکې د افغانی روهلیه، بنګښو او ابدالیانو لړیه (سعدالله خان روهلیه، احمدخان بنګښ او زایدخان ابدالي) لوی ځواکونه وو. دغو ټولو اوضاعو احمدشاه د هندوستان له لوري څخه ډاډمن کړاو د افغانستان د سراسری دولت د تأسیس او ټینګښت لپاره یې لار ورته هواره کړه. په دی توګه احمدشاه په لږ موده کې په آسانی سره وتوانید چې له جیحون څخه ترعمان او د خراسان او سیستان له ولایتونو څخه تر سند پورې افغانستان ته سیاسی وحدت ورکړي. د احمدشاه د پنځه ویشت کلنې دورې په موده کې ددولت مرکزیت او عمومی امنیت، داسی کلک شوی و چې فیوډالو او ملاکو د بزګرانو په وړاندې خپل مسؤلیت او ددولت په وړاندې خپل کړه وړه وپیژندل. نباري منځنیو طبقو، سوداګرو او پیشه ورو هم د فعالیت نسبتاً آزاد ډګر وموند. دغه وضعیت د فیوډالی متمرکز سیستم دننه ددولت د ټینګیدو زمینه چمتو کړه. له بلې خوا احمدشاه ډیر ځواکمن فیوډالان په نظامی او مسلکی چاروکی راګډ کړل او هغوی یې خوشحاله کړل او د موقوتو جرګو به ترڅ کې یې د هغوی نظریاتو ته غوږ ونیو، او هغوی یې په جګړه یزو سفرونو کې بوخت وساتل، له همدې امله پرته له یو دوه ځله نور د هغوی له اړ دوړ او سرغړونې سره مخامخ نشو. هغه ترټولو لوی عصیان او غتې سرغړونی چې وشوی هغه د کندهار یوشمیر فیوډالانو لکه نور محمدخان میرافغان، عثمان خان توپچی باشی، کدو خان او محبت خان پوپلزي له خوا وې. دوی د احمدشاه د تاکلو په ورځ فکر کاو چې د احمدشاه یواځیتوب او د هغه د قبیلی ضعیف والی به ونشی کولای چې ددوی د مطلق العناني مخه ونیسی، خوکله یې چې ولیدل چې احمدشاه ددولت واکمنی ته په ټولو ټولنیزو برخو کی پراختیا ورکړه او د پخوانیو ټولو زورورو فیوډالانو خولی ته یې غړوندي واچول، نو په غوسه شول او کله چې په ۱۷۹۴ کې احمدشاه بهر کې په سفر بوخت و، نو د هغه د وژلو او د مرکزی دولت د نړولو

Scanned by CamScanner

توطئه یې جوړه کړه، خو احمد شاه پوره د استخباراتو اداره درلوده، هغه ټوله لویه ډله یې په کندهار کې اعدام کړه. د احمدشاه دغه کار د دولت راتلونکی حساب له لویو فیوډالانو سره روښانه کړ. له دغه وروسته سره له دې چې احمد شاه د دولت طرفدار فیوډالان غلي وساتل او هغوی ته به یې کله کله لوړ دریځونه، منصبونه او کله به یې هم یوشمیر اقطاع ورکولې، آن دا چې د فیوډال تر مړینې وروسته به یې د هغه زوی پیژاند. خو بیاهم دوی د قبایلو لوی فیوډالان د دوی له قبیلې څخه لرې او په دربار کې ساتل او دوی به یې جګړو ته لیږل، خو دی ته نه پرېښودل چې په پلازمینه کې قومي وسله وال قطعات ولري. احمدشاه قبایلي پوځونه له مرکز څخه وشړل او د هغوی پرځای یې تنخواه لرونکی لښکر جوړ کړ. دغه لښکر به له دولت څخه ټاکلی معاش اخیست. نوځکه یې نشو کولای چې لکه د قبیلوی عسکرو په شان خلکو او رعیت سره تماس وساتي، همدرانګه احمد شاه تر ممکن برید پورې فیوډال د هغه په خپله سیمه کې او د هغه د قوم په ساحه کی په حکومتی چارو نه ګوماره، بلکې د دولت تنخواه اخیستونکی چارواکي چې د منځنی طبقې څخه وو، په قبایلي سمو کې ګومارل. روحانیون هم له احمدشاه څخه خوښ وو، داځکه چې احمد شاه هغوی ته درناوی درلود او ټول جوماتونه او محکمې د همدوی په واک کې وې.

احمدشاه دده د غوره اخلاقو، تقوا او ښه خدمت له امله پلار بلل کېد او ځینی وخت به ورته د غازي نوم هم ورکول کېد. داځکه چې احمد شاه هغه یواځنی پاچاو چې په افغانستان کې یې د پاچاهي خول پرسر نه و ایښی، هغه پګړۍ تړله، چپن یې وه او موزې یې په پښو کولې، هغه د تخت پرځای په فرش شوی ځمکه باندې کیناست، په سیده توګه له خلکو سره مخامخ کېد، په تواضع او پراخ تندي یې خبرې کولې، هغه ټول قوانین په کلکه رعایت کولو چې خپله یې جوړ کړي وو. احمدشاه د خپلی پاچاهی پر مهال هیڅکله په عیاشی او تجمل لاس پورې نه کړ او حریص هم نه و. هغه په هیڅ جګړه کی له دښمن څخه ونه تښتید او د خپلو هیوادوالو په وړاندې متواضع او نرم و هغه خپله کورنی او خپلوان د دولت په چارو کې له لاسوهنی او ګډون کولو څخه لرې وساتل. هغه یواځی تیمور یعنی خپل ولیعهد د جهان خان پوپلزي ترلارښوونې لاندې د هیواد په لویدیزو او ختیزو څنډو کې د سیاسی او نظامي چارو په تمرین او مشق کولو کې بوخت پرېښود. له خپلوان او کورنی څخه دده لرې والی دومره زیات و چې تاریخ او خلک پرته له تیمور او سلیمان څخه د هغه نور اولادونه پوره نه پیژني، حال دا چې هغه اته زامن درلودل (سلیمان، تیمور، شهاب، سنجر، یزدان بخش، سکندر، داراب او پرویز). هغه په سزا ورکولو کی د انسان د بدن د غړو پری کول (مثله) منع کړل او په تشریفاتو کی یې خشوع او د ملاتیټول هم تحریم کړل. احمدشاه د دربار لګښتونه راکم کړل او د لښکر او د دولت د کار کونکی تنخواه به یې په خپل مهال ورکوله، مالی دفترونه، معاش، دخل او خرڅونه د دولت په اډانه کی پراخ شول او منظمه بڼه یې غوره کړه. هغه په پلازمینه کی داسی تشکیل جوړ کړ وزارت (د صدارت په دریځ سره)، اعلی دیوان (د مالیې وزارت)، خزانه داری، د ضبط بیګی دفتر (امینه او کوتوالی)، نسقچی باشی ګری (د سزاګانو تطبیق کوونکی اداره)، داروغه ګی، د اخبار او هرکاری باشی (ضبط احوالاتو او استخباراتو) دفتر، میرآخور

Scanned by CamScanner

باشي (د څارویو د لېږدونې دفتر) او یوشمېر نور کوچني دفترونه او ادارات لکه باجګیر، میر آب، خالصه جات، کلانتر شهري او نور همدارنګه نوموړي به ولایاتو کې لاندنۍ اداري په کار وګومارلې حاکم، پیشکار (مرستیال)، امیرلشکر، مستوفي، قاضي، قطعه دار، باجګیر، د ثالثانو مامور، میر آخور، میراب او کلانتر. همدارنګه یې په دربارکې د دیوان انشا، عرض بیګي، مهماندار باشي، پیشخانه چي باشي او د طعام د کارخانې ناظر او په اردوکې یې لشکر نویس، دفتري نظام، اردو باشي، جارچي باشي، سیورسات چي او قورخانه جوړکړل. شرعي محکمو هم په پلازمینه او هم په ولایتوکې د هیواد د قضایه څواک په توګه کارکاو. همدارنګه نوموړي د قومونو د مشرانو او د لوړ رتبه مامورینو او افسرانو جرګې په خپل خپل وخت جوړولې او په مهمو نظامي او سیاسي مسایلو کې یې غورکاو او هغوی به پاچا ته خپل نظر ورکاو.

په خپله دډېر لوړ واک په لرلو سره ددغو ټولو اجرائي، قضايي او نظامي چارو په سرکې و او د هغه پریکړه ترټولو اوچته وه، خو بیاهم احمدشاه په مهمو سیاسي او نظامي چاروکې د جرګې د نظر په اخیستو سره ددولت مهم او نفوذ لرونکي غړي په مسؤلیت کې شریکول. احمدشاه د افغانستان په بهرني سیاست کې دډېر احتیاط په کولو سره په څواکمن اردو ډېره لګوله. دده په اردوکې شپاړلس زره منظم پلي او سپاره عسکر، درنه توپچي، سپکه توپچي (زنبورک یا شهنګ) او د آس او اوښانو او پیلانو نقلیه وه. د اردو افسران په لاندې توګه وو: ده باشي، صد باشي، مینګباشي، قللر اقاسي، کشیک چي باشي (د ساتونکي ګارد قوماندان)، جزایر چي باشي (شهنګ چي یا زنبورک چي) توپچي باشي، امیرلښکر او سپهسالار. همدارنګه د احمدشاه پر مهال نور دیرش زره غیرمنظم خواره واره عسکر هم په پلازمینه او ولایتونوکې او د هیواد په پولوکې وو چې د جګړې پر مهال له بیلابیلو سیمو او قومونو څخه جلبي قطعات هم راټولیدل او پورتنی اردو سره به یوځای کیدل. د بیلګې په توګه هغه مهال د هیواد په ختیځ کې له یوې کوچنۍ سیمې (د مروت له قوم) څخه دوه سوه بې معاشه سپاره او له یوه لوی ولایت (بلوچستان) څخه شپږ زره جمازه سوار (اوښ لرونکي) د احمدشاه اردو ته ورننوتل. احمدشاه په لویو جګړو (د پنجاب او هند جنګونو) کې تر څلویښت زره پلیو او سپرو عسکرو پورې پوځ او اوه سوه زنبورک لرونکي اوښان او یوه لویه توپچي په کار اچولې وه. داسې اټکل کیږي چې ددغې اردو د یوې میاشتې معاش به دولس روپۍ او د پلیو معاش به شپږ نغدي او جنسي روپۍ وې. د احمدشاه پرمهال د افغانستان کلنی جنسي او نغدي مالیات (د ځمکو د سیده او نا سیده مالیاتو په ګډون) څه نا څه ۳۱ میلیونه روپۍ کیدې چې د هغو دریمه برخه په نظامي او ملکي چاروکې لګول کیدې او بله دریمه برخه یې ددولت په خزانه کې سپما او ذخیره کیدې.

له دې ټولو سره سره احمدشاه د افغانستان د بیا جوړونې په برخه کې د خپل مخکښ او مؤسس میرویس خان هوتکي د تګلاري مرهون او د هغه په پل قدم ایښودونکی و. البته احمدشاه هماغه نیمګړی طرح بشپړه کړه. همدارنګه احمدشاه په سیاسي او نظامي لیاقت کې لکه د نادرشاه خراساني په شان په یوې تاریخي ځانګړې مرحلې کې په بریالي ډول له آزموینې څخه را تیرشو، خو توپیر یې دا و چې دده بنسټ

Scanned by CamScanner

ډیر کلک و او ملت هم ورځخه خوښ و، حال دا چې د نادرشاه بنسټ وروسته دده له منځه تلو ځخه منځه ولاړ او خلک ورځخه خوښ نه و او اتباعو ورځخه کرکه درلوده.

احمدشاه د افغانستان په اداره کې د سیاسی یووالی بنسټ کلک کړ او هیواد بې په سیاسی یووالی ودراو. ددغی موخې د ترلاسه کولو لپاره یې د افغانستان په خلکو کې حقوقي مساوات په پام کې ونیول او د مذهب، ژبی، نژاد، سیمې او قبیلی ترمنځ یې هرډول توپیرونه او تبعیض کم کړ. ښکاري چې په خپله احمدشاه له دینيْ او قبیلوی تبعیض ځخه تش نه و، د بیلګی په توګه کله چې هغه د صابرشاه له خوا د «ذر دوران» لقب ترلاسه کړ هغه یې د «دُر دوران» په بڼه په قبیلوی اډانه کې راوست او د ټولو ابدالي قبایلو مجموعه یې د درانیانو په نوم ونوموله. دا یواځې نه، بلکې هغه ختیځ ته د سفرپر مهال د یوسفزیو قبیلې ته هم ددرانیو نوم ورکړ. نوځکه د افغانستان ملت په تیره بیا پرته له ابدالیان ځخه نورو پښتنو او په ځانګړې ډول غلجایي قبایلو دغه نومونه د نورو په پرتله د شاهی قوم لپاره یو ډول غوره والی وباله، خو په عمل کی احمدشاه د وینا په پرتله ډیر عادل و او ملت ولیدل چې با کفایته خلک پرته له کوم تبعیض او پرته د ژبې، قوم او مذهب له پام کې نیولو ځخه ددولت په چاروکی ګډون لري. د بیلګې په توګه د احمدشاه قلمرو دننه هغه مهم او نامتو والیان دا وو: په هرات کې درویش علی خان هزاره، په نیشاپورکې عباس قلی خان بیات، په قلات ولایت کی اشرف خان غلجایي، په ښکار پورکې دوست محمد خان کاکړ، په مشهد ولایت کې شهرخ افشار، په کشمیرکې خواجه عبدالله خواجه زاده، په پټیاله کې امیرهنګه سک، په بلوچستان کې نصیرخان بلوځ، په پنجاب کی زین خان مهمند، د سند په ولایت کې نور محمد چې په شهنوازخان سندی سره یادید، اسمعیل دیه کی موسی خان او په ملتان ولایت کې شجاع خان ابدالي. په پلازمېنه کې د احمدشاه ددارالانشا رئیس یا مشر میرزا هادی خان قزلباش د اعلی دیوان مستوفی میرزا علی رضا خان قزلباش او د ټولو خزانو مشر یو هندي یوسف علی نومید او په التفات خان سره یادید. البته د احمدشاه د اداري دغه ډول بڼه یواځی د احمدشاه ځانګړی امتیاز نه و، بلکې د زیات شمیر ختیزو اسلامي هیوادونو د دولتونو بڼه هم همداسې وه، داځکه چې تر اتلسمې پیړۍ پورې لا لویدیځ ښکیلاک په ختیزو هیوادونوکی نیلې نه وې ځغلولې او د نفاق، د اقلیتونو د اختراع او د هیوادونو د تجزیې او تقسیم په هکله کار نه و پیل شوی. را وروسته بیا د ختیځ هیوادونو دغه خطرناک زهرو ځښل او په هریوه کی دننه ددین، نژاد، مذهب او ژبی له پلوه درزونه پیدا شول ددوی ځمکنی بشپړتیا، ملی هویت، سیاسی او اقتصادي استقلال په خطرکی واچول شو او لا اوس هم دغه قاتل زهر ددغه یوشمیر هیوادونو په شریانونو کې جریان لري.

د احمدشاه د تلو د ځانګړو تاریخی شرایطو دننه کې وکولای شول چې د افغانستان د بیرته بیا جوړولو لپاره مهم سیاسی خدمت وکړي، خو نه یې شو کولای چې په بشپړ دول له ټولو تیروتنو ځخه بچ پاتې شي. د بیلګی په توګه د هغه یو عجیب، بی ګټې او آن مضر کار داو چې د هندوستان په چاروکی یې منفی لاسوهنه وکړه، په دې معنا چې د هندوستان بابری دولت مضمحل شوی او نور یې دا توان نه درلود چې وکولای شي یو لوی هیواد اداره کاندي، حال دا چې د ښکیلاک یوه لیوه یې د کور به یوه

څنډه کې کمین نیولی و. په داسې یوه مهال کې یې دوه لوی او کوچني قوتونه د هند په جنوب او شمال کې جوړ کړل. چې یو یې مرتهه او بل یې سکه و. البته احمدشاه حق درلود چې د سند تر حوزې خپل هیواد وساتي او د سند ترغاړو پورې د خپل هیواد بشپړوالی او تمامیت د سکه د توسعه طلب او پراختیا غوښتونکی ځواک په مقابل کې وساتي، خو د هند پر زړه باندې یرغل او د مرتهه (مرهټې) ملي ځواکونو د ماتولو په خاطر د زرګونو افغان او هندی خلکو وژل کیدل یو خطرناک کارو او د افغانستان یا هندوستان د ملي منافعو له ساتنې سره یې کوم ارتباط نه درلود. ددغې لویې سوبې ګټل به حقیقت کې د انګریزي ښکیلاک له مخې څخه د یوې لویې تیږې لرې کول و. احمدشاه غوښتل چې په هندوستان کې دغه یوه لویه خلا او تشیال ددین په نوم او د داسې یوه دولت په پیاوړي کولو سره ډکه کړي، چې نور نو د تاریخ په حکم په مرګ باندې محکوم و. حال دا چې دا کار ونشو مرتهه وټکول شول او بابري دولت ژوندی نه شو، په دې توګه ښکیلاک ته لار پرانیستل شوه.
داځکه چې نه د افغانستان دولت د هند د مړه شوی دولت ځای ونیولای شو او نه هم کوم بل هندي ملي قوت. ممکن دولت داسی وویلای شو چې احمدشاه په داسی یو زمان او مکان کی ژوند کاو چې د هغه لپاره د استعمار او ښکیلاک د خطرونو اټکل کول ناممکن و.
همدارنګه احمدشاه چې خپل ۲۵ کاله عمر (پرته د لښکر کشیو د کلونو څخه) د هیواد دننه د اداري او سیاسی چارو په منظم کولو تیرکړل، یو بشپړ د حساب وړ دولت او منظم اردو یې جوړکړ. هغه په دې لټه کی نشو چې د افغانستان له لاسه وتلی تمدن، فرهنګ او اقتصاد په پرمختګ کې (د هیواد د دوه نیمو پیړیو تقسیم او ویش څخه وروسته) هڅې وکړي، خو لویدیزه نړۍ دا مهال د علومو او اقتصاد په برخه کې دومره پرمخ تللی وه چې د انګلستان بورژوازی انقلاب او بیا د فرانسې انقلاب د اروپا په تاریخ کې یو نوی پړاو (یعنی د منځنیو پیړیو پر فیوډالي نظام باندې د پانګوالي د نظام بریالیتوب) اعلان کړی و. سره له دې چې د لویدیځ ددغه لوی پرمختګ اغیزه او پایله د ختیځ هیوادونو لپاره ډیره په درنه بیه ولویده، داځکه چې د لویدیځ ښکیلاک ښامار لکې وخوځوله او خپله خوله یې پرانیسته چې آسیا او افریقا لـه ستوني تیرکړي. البته احمدشاه د افغانستان د یووالي کړۍ دننه، یومقتدر، ځواکمن او متمرکز دولت جوړکړ او د ملوک الطوایفانو تجزیه طلبي یې په کلکه وټکوله.
په هرحال احمدشاه په ۱۷۷۱ کې د کندهار اوسنی ښار د افغانستان د پلازمینې په توګه جوړکړ چې په هغه کې دده خپل زیارت د افغانستان د هغه مهال د معماري یوه بشپړه بیلګه ده. همدارنګه هغه د ځانګړو نظامي ضایعو په برخه کې لکه باروت جوړولو او ناریه او جارحه وسلو جوړولو کې ډیره پاملرنه وکړه. د احمدشاه په مسکوکاتو کی زیاتر رسمی ښې د توري، ستوري او د غنمو د وږي په بڼه انځور شوی دی او د سپینو زرو سکه د (کندهاری روپۍ) په نوم یادیده چې درندوالی یې دوه مثقاله او څو نخوده و او ارزښت یې پنځوس مسی فلوس کیدل. د احمدشاه د سرو او سپینو په سکه دغه بیت لیکلی شوی و:

حکم شد از قادر بیچون به احمد پادشاه
سکه زن برسیم وزر از پشت ماهی تابماه

د احمدشاه سکه په کابل، کندهار، هرات، مشهد، اټک، پېښور، دیره جاتو، بهکر، سند، کشمیر، انواله، روهلیه کنه، لاهور، ملتان او سرهند کې کونډه کیدي او چلیدې.

## د احمدشاه نظامی سفرونه

همدا چې احمدشاه پاچا شو، نو د دولت د چارو د پرمخ بیولو او د اردو د تنظیم به برخه کی مالي ستونزو سره مخامخ و دا مهال د ملتان، پنجاب او ختیز افغانستان د څوکلونو د مالیاتو کاروان (چې یومیلیون او دری سوه او شپیته زره سره، نقد او جنس پکی و) د نادرشاه افشار د دربار په نیامت د بولان د درې له لارې څخه کندهار ته را ورسیدل او مخامخ د احمدشاه حضور ته ور ورسول شول. دا د احمدشاه د موخو لپاره یوه لویه مرسته وګرځیده. کله چې احمدشاه د پلازمینی د چارو له تنظیم کولو څخه وزګار شو، سمدستی (د واک به دریمه میاشت) د افغانستان د ټولې تاریخی او طبیعی څمکی د یوکولو، سلامتیا او بشپړتیا لپاره یې سوقیات پیل کړل، او بیا یې نور ګامونه آن د نورو خاوری ته هم ور اوچت کړل.

## په ختیځ کې لومړی سفر (۱۷۴۷ – ۱۷۴۸)

په ۱۷۴۷ کی جهان خان پوپلزایي د احمدشاه سپهسالار او پیشدار د غزنی، کابل، جلال آباد او پیښور له لارو څخه د سند ترغاړو پوری ورسید. احمدشاه هغه پسی وروسته روان شو. دا مهال د کابل او پیښور والی د هند پخواني بابري دولت عامل ناصرخان و چې نادرشاه ته تسلیم شوی و. هغه په کابل کې وغوښتل چې د هزاره او ایماقو د لښکر په مرسته مقابلی ته پاڅیږي، خو لښکر ورسره ونه منله چې د خپل هیوادوال پاچا په وړاندې جګړه وکړي. ناصر جلال آباد ته ولاړ، خو د خلکو ملاتړ یې ترلاسه نه کړ، نوځکه پیښور ته وتښتید. جهان خان له کندهار څخه تر پیښور پورې په آرامي سره ورسید، یوائې د ناصرخان یوحاکم بې په غزنې کې ټکولی و. جهان خان په جلال آباد کې ولیدل چې د اشنغر حاکم عبدالصمدخان دده هرکلی ته راغلی و. جهان خان په پیښور کی ناصرخان کلابند کړ. ناصرخان د راولپنډۍ له لارې لاهور ته وتښتید، سردار جهان خان د اټک ترغاړې د احمدشاه په تمه کیناست. احمدشاه ته د افغانستان د پاچا په توګه له کندهار څخه تر پیښور پورې ټولو خلکو هرکلی ووایه. هغه خلکو سره لیدنې-کتنې وکړې د خانانو پام یې ځانته واړاوه او نه خلکو څخه نوی سرتیري پوځ کی شامل کړل او په بیلابیلو سیموکی یې له خپل لوري نځخه حاکمان وټاکل. احمدشاه په همدې سفرکې په پیښور کې یوسفزي قبایل «بردرانی» وبلل. ټولو هغو قبایلو او خلکو چې د سند په ښی غاړه کې اوسیدل، خپل ځانونه ابدالي دولت پورې وتړل او په دې ترځ کی د چا پوزه هم وینې نه شوه، حال دا چې

هیڅ بهرني ځواک ونه توانید چې پرته له جګړو څخه د خیبر له درې روغ او آسانه تیر شي. دی خبرې دا ښودله چې د افغانستان ملت د پردیو د شړلو او د ملي خپلواکۍ د ډاډمنتوب غوښتنه درلوده. احمدشاه چې له کندهار څخه تر پیښور پورې د خلکو تود هرکلی ولید، زړور شو او ځواکمن شو. نوځکه هند ته وړپورې وت د پنجاب بابري والي شهنوازخان د چناب به غاړه ددفاع په نیت د احمدشاه مخې ته راووت. احمدشاه په یوه شپه کې د محاذ او جګړې له ډګر څخه څومیله بر له اته زره سپرو سره چناب سیند څخه پورې وت او په ناڅاپي توګه یې لاهور ونیو. شهنواز د ډیلي خواته وتښتید خو د افغاني قوتونو له خوا تعقیب او له ماتې سره مخامخ شو.

د هندوستان شهنشاه «ابوالفتح ناصرالدین محمدشاه خجسته اختر پادشاه غازي شاه جهان» په بیړې سره له سل زرو څخه زیات اردو د ولیعهد شهزاده احمدشاه او د هند د صدراعظم اعتماد الدوله قمرالدین خان په مشرتوب د احمدشاه افغان په وړاندې چمتو کړ. ددغه اردو جنرالان دا وو:

د اوده ولایت نواب ابوالمنصورخان صفدر جنګ چې د توپچي قوماندان و، د راجپوت مهارا جای اسري سنګه، د پتیاله والي سنګه جیت او د سرهند والي جمال الدین تالپوری. دغې اردو خپل هرڅه د سرهند په کلاکې کینبودل او په خپله د ستلیج د سیند غاړو پورې د (ماچي واړه) په سیمه کې د افغاني لښکر مخې ته راووتل، خو احمدشاه ددښمن د تمې برخلاف، له خپلو دیرش زره عسکرو سره د مامول له لارې څخه کوږ او په یوه اړخیز حرکت سره د لودهیانه له لارې پرسیند پورې وت او د سرهند کلا یې ددښمن له مالونو سره یوځای ونیوله. د هند لښکر بیرته (مالوپور) ته ستون شو، خو افغاني لښکرو د هغه مخه ونیوله. د ۱۷۴۷ کال په جنوري کې افغاني لښکر له خپلو اوه سوه اوښانو د زنبورک توپونو او ادو نورو مخکنیو (جلوی) توپونو سره د هند دیولوی توپچي ځواک سره مخامخ شو.

ددغې جګړې په ترڅ کې د هند صدراعظم ووژل شو سردار جهان خان د ښي لوري قوماندان له خپلو سرتیرو سره یوځای د صدراعظم زوی میرمنو د هندي ځواکونو له کیڼ اړخ سره یوځای په مخه کړ او د راجپوت جګړه کوونکی ځواکونه یې د هغو تر سنګرونو پوری په شا وتمبول، خو د هندي لشکر ښي اړخ او صفدر جنګ په میړانه جګړه وکړه او د افغاني پوځ کیڼ اړخ یې له امیر لښکر شاه پسند خان سره مات کړ. د شپې تروړمې د جګړې مخه ونیوله او افغاني لښکرو د کیڼ لوری په سنګرونوکې د (بان) دارابو په اوراچولو سره (یو ډول هوایي اور غورځوونکي غشي وو) ډیر زیات تلفات ولیدل. همدا لامل شو چې احمدشاه افغان اړ شو چې د هند ددولت شرط ومني او دايي هم ومنله چې د پنجاب ولایت به د هندي والي میرمنو په واك کې وي. په دی توګه دواړه لښکر په بیړه بیرته ستانه شول. احمدشاه خبر شوی و چې د هغه په غیاب کي مخالفین دده وراره لقمان خان ابدالي لمسوي او په کندهارکی هغه پیاوړی کوي او دده پرضد یې پاوري او هندیان هم د هندوستان د پاچا له ناروغي څخه خبر شول او وروسته یې بیا د هغه د مړینې خبر واورید. احمدشاه ددیره جاتو له لارې بیرته کندهار ته ستون شو. د لارې په ترڅ کې د ملتان پخواني بابري والي زاهد خان ابدالي دده هرکلي ته ورغی. احمدشاه هغه بیرته بیا ځلی د ملتان د والي په توګه وټاکه. زاهدخان یو پوه او عالم سړی و چې د بار وړونکو اوښانو د کراهه کشي له بوختیا څخه په ملتان کی یو

Scanned by CamScanner

پراخ تجارت پوري رسیدلی و او بیا وروسته تر هغه یې د لاهور له بابري حکومت سره پېژند ګلوي وشوه او بیا یې د هند له دربار سره اړیکي پیدا شوې. ترڅو یې چې له محمدشاه څخه د ملتان نظامت تر لاسه کړ. د هغه زوی شجاع خان چې د پلار له مړیني څخه وروسته د احمدشاه له خوا د پلار پر ځای د ملتان والي وټاکل شو. هغه هم و دانشمند شخص و یو د هغه ځای ناستې په ملتان کې مظفرخان و چې په مجاهدت، عدالت او وکړ پالنه کې یې نوم درلود. همدغه سړی و چې د افغانستان د بیرته خوړ او دربدره کیدو پر مهال او د سکه د ورځ په ورځ زیاتیدونکي ځواک پر مهال یې د رنجیت سنګه په وړاندې په میړانه مقاومت وکړ او له خپلو دوو زامنو سره یو ځای ووژل شو.

کله چې احمدشاه ابدالي کندهار ته ورسید، لقمان خان چې له خپلو ملګرو څخه یواځې پاتې و، ونیول شو او حبس ته واچول شو او همالته مړ شو خو د هغه فیوډالو ملګرو د احمدشاه پرضد د خپلې توطئې عملي کول د راتلونکي لپاره پرینبودل او یو کال وروسته بیا ټول ونیول شول او اعدام شول. د لقمان خان یوملګری د بلوچستان حاکم او سردار د بلوچستان د نادري دوري د والي محبت خان ورور حاجي خان بلوچ و، چې له دغې پېښې څخه وروسته احمدشاه هغه د بلوچستان له ولایت څخه معزول کړ او پر ځای یې دده ورور نصیرخان وټاکه.

نصیرخان پاچاهي ته د احمدشاه د ټاکنې پر مهال د شیرسرخ د جرګې یوغړی او د احمدشاه شخصي دوست هم و.

## په لویدیځ کې دوهم سفر (۱۷۴۹)

احمدشاه د ۱۷۴۹ کال په پیل کې د لویدیځ په لور حرکت وکړ او هرات ته ورسید. نادري حاکم امیرخان عرب له بهبودخان مروي سره یوځای د خلکو له خوښې پرته تسلیم نه شو او ځان یې کلاکې ایسار کړ. حال دا چې یوه بل لوی خان (درویش علي خان هزاره) د احمدشاه په پلویتوب قیام وکړ. کله چې د احمدشاه عسکري یرغلی پیل شو، د ښار خلکو د خاکستر برج د احمدشاه سرتیرو ته ور پرینبود او د هرات پر ساتونکو یې یرغل وکړ.

احمدشاه ښار ونیو، امیرخان یې اعدام او حکومت یې دوریش خان هزاره ته ورکړ. احمدشاه خپل صدراعظم شاه ولي خان بامیزایي د هرات له ښار څخه له یوې قطعې سرتیرو سره د افغانستان شمال ولایتو ته واستول ترڅو هلته سیمه ییز ازبکي امیران مرکزي حکومت ته تابع کړي. دا مهال په ټولو ولایتونو لکه مرو، فاریاب، جوزجان، بلخ، خلم، بدخشان او تخارستان کې سیمه ییزو ازبکي خانانو په بالاحصارونو، ښارونو او لویو کلیو کې د سیمه ییزو حاکمانو په توګه حکم چلاو او مالیات یې ټولول او ځینو یې یوشمیر نورو له ځان څخه غټو خانانو ته باج ورکاو او د هغوی اطاعت یې کاو. دغو خانانو له ډیرو کلونو راهیسې د بخارا هغه جنیدي حکومت چې نور نو له پښو څخه لویدلی و او د پاشل کیدو په حال کې و، نه پېژاند او دوی هر یو په خپلو سیمو کې د بشپړ واک لرونکي وو. ددوی سرتیري د فیض آباد، رستاق، تالقان، خان آباد، کندز، اندراب، سمنګان، خلم، بلخ، شبرغان، اندخوی، میمنه،

Scanned by CamScanner

مرو او نورو په کلاوو کې پراته وو. ددوی رمې او څارویو په شنو وادیو کې څرېدل. د هرې سیمې خلکو د خپل خان تر مطلق العنانه واک لاندې ډېر ساده ژوند کاوه او له هرډول پرمختیایي بدلونونو څخه محروم وو. کله چې شاه ولي خان دغو سیمو ته راغی، سیمه ییزو خانانو او خلکو یوبل پسې مرکزي دولت ته خپله تابعداري وښوده. شاه ولي خان په هرځای کې له مروې څخه تر بلخ، بدخشان تخارستان او بامیان پورې په هریوه سیمه کې مامورین وټاکل او دوی سره یې د مالیاتو په هکله ژمنې وکړې او په خپله د اندراب له لارې څخه له هندوکش څخه تیر شو، بیرته د پنجشیر، ګلبهار، کاپیسا او کابل او غزنی له لارې څخه په ۱۷۵۰ کې کندهار ته راغی.

خو احمدشاه چې کله هرات مرکزي دولت پورې وتاړه، مخ په مشهد روان شو او هلته یې د تربت شیخ جام (زیارت) په سیمه کې د شهرخ د نایب میرعلم ساتونکي بوخونه مات کړل.

میرعلم وتښتید او شهرخ چې د هغه په لاس کې بندي و، د خپل زوی نصرالله مرزا په مرسته را خوشې شو. کله چې احمدشاه مشهد ته ورسید، شهرخ تسلیم شو. احمدشاه د هغه درناوی وکړ او له خپل لوري یې د مشهد حاکم کړ او نور محمدخان افغان یې ورته نایب کړ. همدرانګه احمدشاه د جام، باخرز، خاف، تربت او ترشیز د خراسان له ولایت څخه را جلا کړل او هرات پورې یې وتړل. احمدشاه له مشهد څخه نیشاپور ته ورغی چې د لارې په ترڅ کې یې تون کلا له میر معصوم څخه (چې د میرعلم ورور او په خراسان ولایت کې د شهرخ نایب و) ونیوله، خو د هغه وراره عباس قلي خان او د نیشاپور حاکم جعفرخان بیات مقاومت پیل کړ، سره له دې چې جعفرخان په جګړه کې ټپي شو، خو احمدشاه چې ولیدل چې ژمی را وران دی، او هم په کندهار کې د مخالفو فیوډالانو له فعالیت څخه خبر شو، نو د نیشاپور کار یې پرېښود، بیرته کندهار ته راستون شو او د لویو خانانو توطئه کوونکي ډله یې اعدام کړه.

احمدشاه د همدې کال په پای کې بیا مخ په پنجاب ولاړ، خو د پنجاب والي میرمنو ورغه جوړه وکړه او د څلورو سیمو (سیالکوټ، اورنګ آباد، ګجرات او سپرسرور) مالیات چې په یوه کال کې یومیلیون او څلور سوه زره روپۍ کیدې، د هغو ورکړې یې د افغانستان دولت ته ومنله، نو احمدشاه له پنجاب څخه بیرته کندهار ته ستون شو.

## شمال لویدیځ ته دریم سفر (۱۷۵۰)

احمدشاه د ۱۷۵۰ کال په پسرلي کې یوځل بیا نیشاپور ته ولاړ او هلته یې خپل نامتو توپ له چوان څخه جوړ کړ. دغه توپ د کابل په وزن دولس نیم سیره ګولۍ ویشتلای شوه عباس قولي خان دفاع ته ملا وتړله، خو د ښار دیوال په دغه ګولۍ ونړید او عباس قلي د جګړې په ډګر کې بندي شو، احمدشاه ددغه زړور سړي درناوی وکړ او په نیشاپور کې یې د خپل نایب په توګه پرېښود، خو د بیات کورنۍ هغه غزنۍ ته بوت. کله چې احمدشاه هرات ته راغی، خبر شو چې میرعلم خان خزیمه یوځل بیا پرمشهد یرغل کړی او روند شهرخ یې نیولی. احمدشاه مخ په مشهد ورغی، میرعلیم ته یې ماتې ورکړه او د شهرخ حکومت یې بیرته ورته ترلاسه کړ، په خپله بیرته په ۱۷۵۱ کې د هرات له لارې څخه کندهار ته راغی. ده

Scanned by CamScanner

په دغو څلورو کلونو کې د افغانستان سیاسي یووالي له آمو څخه تر عمان پوري او له سند دریاب څخه د ایران تر دښتو پوري بیرته بشپړ کړ.

## په ختیځ کې څلورم سفر (۱۷۵۲)

کله چې احمدشاه کندهار ته راغی وبې لیدل چې د پنجاب والي میرمنیو د مالیاتو په ورکړه کې (چې مخکې یې منلي وو) ځنډ کوي او د دوو کلونو په ترڅ کې یې د دوه میلیونه او اته سوه زره روپیو له جملې څخه صرف څلور سوه زره روپۍ ورکړې. نو د هارون خان په نوم یې یو استازی ورواستاو او د هغه څخه یې هیله وکړه چې خپله ژمنه ترسره کړي.
میرمنو د دغې غوښتنې په وړاندې معذرتونه وړاندې کړل احمدشاه یو ځل بیا د «سګهجیون مل» په واسطه ټینګار وکړ. داخل میرمنو نهه سوه زره روپۍ ورته واستولې او بس احمدشاه د ۱۷۵۱ کال په پای کې مخ په پنجاب لښکر وروست او د خواجه عبدالله کوچک ترمشري لاندې یې یو پوځ د اټک او اوحسن ابدال له لارې د کشمیر د نیولو په خاطر له پیښور څخه ورواستاو.
خواجه کشمیر له ټولو بابری عمالو (مامورینو) څخه پاک کړ او په خپله د افغانستان د حکومت له لارې لاس په کار شو او هلته یې حکومت جوړ کړ. د هغه مستوفي سکهیجون و.
په خپله احمدشاه له پیښور څخه مخ په لاهور روان شو او په شاهدره کې یې د پنجاب سپهسالار (کورامل) ته ماتې ورکړه. میرمنو د کورامل له وژل کیدو وروسته په ۱۷۵۲ کې تسلیم شو او د پنجاب په حکومت باندې د پاتې کیدو په بدل کې یې دوه میلیونه روپۍ احمدشاه ته ورکړې او دا ژمنه یې وکړه چې د پنجاب او ملتان ولایتونه د افغانستان برخه وي. احمدشاه د خپل استازی قلندرخان په لاس دغه ژمنه لیک دډیلی دربار ته واستاو، ترڅو د ډیلي پاچا پر هغې باندې مهر او لاسلیک وکړي او هغه لاسلیک وکړ. په دې توګه له ستلیج څخه رادې خوا ولایتونه (کشمیر، پنجاب، ملتان او سند) د افغانستان د قلمرو برخه شوه.
کله چې احمدشاه له پنجاب څخه بیرته راستنید، په لاره کې یې د سند د سیند د ښي لوری غاړې معاینه وکړې او هلته یې نوی ژمنې ترلاسه کړې. په دې لړکې یې د ګندا پور او اپریدو هغه سرې وشمیرل چې وسله یې وړای شوه. څرګنده شوه چې په لومړی سیمه کې د وسلې د وړلو توان لرونکی خلک دولس زره او په دوهمه سیمه کې نولس زره دي.
وروسته بیا په نورو سفرونو کې هم احمدشاه دغه سیمې وکتلې او د خپلو دغو لیدنو-کتلو په ترڅ کې یې د میانوالي د سیمې د یوې کولبې ځمکې مالیه یوه روپۍ او د مروتو د خلکو مالیه یې دوسوه مهار شوی اوښان وټاکل، خو د جګړې پر مهال یې په هغوی باندې دوه سلوه بې معاشه سپاره سرتیری هم کینودل. د بنون د سیمې کلنۍ مالیات دولس زره روپۍ او له دې سره یوځای سیورسات او د پوځ لګښت شپږ زره روپۍ وټاکل شوې. احمدشاه په ۱۷۵۲ کې بیرته کندهار ته ستون شو.

Scanned by CamScanner

## په هند کې شپږم سفر (۱۷۵۶ – ۱۷۵۷)

د پنجاب والي میرمنو مړ شو او احمدشاه د هغه پرځای د هغه کوچنی زوی محمد امین
په ۱۷۵۴ کې د محمد امین مور (مغلاني بیګم) د خپلی کوچني زوی په نیابت د اداري چارې په لاس کې
وګمارله، خو سیالو فیوډالانو له دغی ضعیفی اداري څخه ناوړه ګټه پورته کړه او د واک غوښتني ډګر
رانښې. دا مهال د ډیلی دربار د یوه ماجراجو صدراعظم یعنی عمادالملک غازی الدین د لاس وسیله
وړاوو تل. دا مهال د ډیلی په لږ فرصت په موندلو سره د هند پاچا احمدشاه ابن محمدشاه بې واکه او
ړوند چې په ۱۷۵۴ کې یې د هغه پرځای کیناو وروسته یې په ۱۷۶۰ کی دغه خپل لاسپوځی پاچا هم مړ کړ او له
عالمګیر ثاني یې د هغوی په مرسته یې ډیلی ونیو. غازی الدین د ۱۷۵۶ په مارچ کې له
پرته دولت سره یې لاس یو کړ او د پنجاب یرغل وکړ. لاهور یې ونیو او مغلاني بیګم یې بندي کړه او د هغه ځای
پر ځواکمن پوځ سره په پنجاب یرغل وکړ. لاهور یې ونیو او مغلاني بیګم یې بندي کړه او د هغه ځای
حکومت یې خپله یوه پخواني مامور «ادینه بیګ» ته په کال کې د درې میلیونه روپیو مالیې په ورکولو
سره وسپاره.
سکهیجون د کشمیر مستوفی هم پاڅید او د کشمیر افغانی والی خواجه عبدالله یې مړ کړ او حکومت
یې د ډیلي په نوم په خپل واک کی واخیست.
احمدشاه په ډیره بیړه په ۱۷۵۶ کې له کندهار څخه د بلوچستان او سند له لارې پنجاب ته روان شو او
لاهور ته ورننوت، دا وخت آدینه بیګ له د مخه تښتیدلی و. همدرانګه د نورالدین خان په مشري د
احمدشاه لیږل شوی لښکر کشمیر بیرته ونیو او سکهیجون یې بندي کړ.
احمدشاه له ستلیج څخه د هندوستان د پلازمینی په موخه پوری وت. د هندوستان پاچا عالمګیر ثانی د
سهارنپور د والی نواب نجیب الدوله افغان په مشري یو پوځ د احمدشاه مخی ته واستاو، خو نجیب
الدوله له خپل پوځ سره یوځای د کرنال په سیمه کې له احمدشاه سره یوځای شو. احمدشاه پرته له کوم
ننګ څخه مخ په ډیلی ورغی چې له پلازمینې څخه دیرش میله مخکی غازی الدین او د ډیلی په پنځلس
بیلي کې په خپله عزیزالدین عالمګیر د هغه هرکلی وکړ او د ۱۷۵۷ په جنوری کې دهلي ته ننوت، خو
ښار د یو شمیر خپلسرو خلکو له خواه یوه برخه لوټ شو. احمدشاه د خپل سپهسالار جهان خان په لاس
جاټان چې د هند د دولت مخالف وو تر آګرې پورې وځغلول او غازی الدین یې د روهیله او اودې د سیمو
د مالیاتو د ټولولو لپاره واستاو. د فرخ آباد واکمن احمد خان افغان بنګښ د احمدشاه په نوم مال او
سړی هغه ته ور واندې کړل او سعدالله خان د روهیلې او شجاع الدوله او ده حاکم ورسره دوستانه مشورې
وکړې او هغوی یې دی ته چمتو کړل چې په کال کې پنځه سوه زره روپۍ د افغانستان دولت (احمدشاه)
ته ورکړي. عالمګیر ثاني د خپل ورور لور شهزاده تیمور ته ور واده کړه او د محمدشاه بابری ښځه
صاحبه محل چې دده لور وه هغه یې احمدشاه ته په نکاح کړه او هغه بیا له خپلی بن ملکه زمانی سره
یوځای کندهار ته د تلو غوښتونکی شوه، داځکه چې هغی د هندوستان ګډوډې او د بابریانو د
شهنشاهی زوال د سر په سترګو لید. احمدشاه د هند وزارت د نامتو قمرالدین خان زوی نظام الدوله ته
اوداردو سپهسالاری یې نجیب الدوله یوسفزی ته وسپارل او خپله بیرته هیواد ته راستون شو.

Scanned by CamScanner

احمدشاه د خپل بیرته راتګ پر مهال د سرهند حکومت عبدالصمد خان ممن زايي اشنغري او له ستلیج څخه د راتیریدو پر مهال یې د لومړنی دوابی ترمنځ سیمه (د ستلیج او بیا ترمنځ علاقه) سرفراز خان افغان ته ورکړه او د زاهدخان زوی شجاع خان ابدالي یې د هغه د پلار پرځای د ملتان حکومت د مشر په توګه وټاکه. همدرانګه شهزاده تمیور یې د سردار جانخان پوپلزایي په وزارت سره د پنجاب او سند د ولایتونو په حکومت مقرر کړ. بلندخان سدوزایي یې د کشمیر حکومت ته واستاو او نورالدین یې خانته را وغوښت او خپله بیرته کندهار ته ولاړ.

## په جنوب کې شپږم سفر (۱۷۵۸)

همدا چې کله احمدشاه له هند څخه افغانستان ته راستون شو. په پنجاب ولایت کې اړ-دوړ پیدا شو. داځکه چې هلته ابدالي سردارانو چې د ابدالي څواک په سیوري کې یې تر پنجاب پورې لویه سوبه ترلاسه کړې وه او د یوه سوبمن ځواک په بڼه را څرګند شوی وو. پر بزګرانو او کروندګرو ډیر دروند بار کیښود. د هغوی دغه چلند خلک پاڅون ته اړ کړل. جګړه مار سکه قوتونه چې هم وسله ورسره وه او هم یې مذهبي تعصب درلود وتوانیدل چې ډیرژر د اړ دوړ کوونکو لارښوونه ترلاسه کړي. دوی له بیلابیلو سیمو ډګر ته راووتل او په امرتسر کې یې خانګړي تشکیلات جوړ کړل. په دې توګه ددوی او افغاني ځواکونو ترمنځ جګړې پیل شوې. په همداسې یوه مهال کې د هند لړې کړل شوې وزیر غازي الدین هم د خپل واک د بیرته ترلاسه کولو په خاطر له مرهټه و سره لاس یو کړل او دواړو ډیلي او د هند ضعیف دولت تر یرغل لاندې راوست او هغه یې ړنګ کړ. نجیب الدوله یوسفزایی د هند سپهسالار د سهانپور خواته وتښتید او غازي الدین هلته هم پسې ورغی. ډیلي هم وپرځید. په دې توګه د منځنی هند راجپوتانو او جټان هم له مرهټه وو (مرتهه وو) سره یوځای شول. او په دې توګه ورو ورو هند داسې یوې خواته روان و چې په ملی بڼه او په یو ملی واحد قوت بدل شي.

غازي الدین هم په پنجاب کې سکه قوتونه د افغاني دولت پرضد ولمسول. د هغه پخوانی مامور آدینه بیګ له سکهانو سره یوځای په جلندرکې ډیر افغانان ووژل. کله چې دغه پیښه تر کلکې پوښتنې او پاملرنې لاندې راغله نو سکهان او آدینه د احمدشاه له لوري د یرغل کولو له ویرې غازي الدین او مرهټه ووته ورغلل او هغوی یې د پنجاب نیولو ته وهڅول، په داسې حال کې چې د مرتهه وو دریم پیشوا (بالاجی باجی) په خپله دا هوډ کړی و چې افغانان به له پنجاب څخه وکاږي. داځکه ده لیدل چې د هند په شمال باندې د افغانانو په واکمن کېدو سره ددغې سیمې مالیاتی عواید د مرهټه وو له خولې څخه اخیستل کیږي. البته د هند خلک دې ته چمتو وو چې پاڅون وکړي او بهرنیان له خپلې خاورې څخه وباسي. په دې توګه د مرهټه وو دوه سوه زره لښکر د بالاجی باجی د ورور «راګونات راو» په مشرتوب مخ په سرهند ورغلل او د ۱۷۵۸ کال په مارچ کې یې افغانی قوتونه له ماتې سره مخامخ کړل او عبدالصمد ممن زائی یې بندي کړ. دوی د اپریل په میاشت کې په لاهور هم یرغل وکړ. دا مهال چې شهزاده تیمور او سردار جهانخان د مقاومت طاقت نه درلود تر اټک پورې په شا راغلل او آدینه بیګ په

کال کې د اوه نیم میلیونه روپیو مالیاتو په منلو سره په پنجاب کې د افغانانو ځای ونیو. په دې توګه دا مهال د مرهټوو او نورو ځواکونو پر ته له اوده څخه نور ټول هندوستان نیولی و او خوا په خوا د افغانستان ګاونډیان شوي وو. مرهټه نواوو د اوده د حکومت د پرځولو په خاطر له پنجاب څخه پوري غاړه پرغلونه پیل کړل. کله چې ددغو پېښو خبرونه دلته په افغانستان کې د ننه خپاره شول. له مرکز څخه تښتېدونکي فیوډالان یې د یاغیتوب او خپلواکۍ کیدو په هوس کې واچول. دا څکه چې دوی احمدشاه د مرهټه وو د ځواکونو په وړاندې ماتې شوی وګاڼه. تر ټولو مخکې او تر هرچا مخکې د بلوچستان والي نصیرخان په دې فکر کې شو او خپلواکي خان يې خپلواک اعلان کړ.

احمدشاه سمدستي د هندوستان د پېښو تصفیه کول راتلونکي ته پرېښودل. لومړی او تر هر څه مخکې بې چارو ته پاملرنه وکړه. په دې توګه یې د صدراعظم شاه ولیخان په مشرتوب یو پوځ د بلوچستان خوا ته ولیږه. خو هغه د هغې کلکې دفاع له امله چې نصیرخان وکړه، د (مستون) په سیمه کې له ماتې سره مخامخ شو، نو دا ځکه شخصاً په خپله احمدشاه له یوه لښکر سره مخ په جنوب روان شو او په لږ وخت کې یې په مستون کې د نصیرخان پر لښکر یرغل وکړ نصیرخان ماتې وخوړه او تر قلات پورې په شا شو، خان یې په کلاکې ایسار کړ. احمدشاه هغه پسې واخیست او بیا یې هغه کلابند کړ په پای کې نصیرخان یو استازی ولیږه او د شاه ولیخان په شفاعت سره یې د روغې جوړې غوښتنه وکړه او دا یې ومنله چې لکه د پخوا په شان به د ابدالي دولت تابع وي او د احمدشاه په جګړو کې به له شپږ زره پوځي سرتیرو سره یو ځای برخه اخلي او د هغوی خرځ-خوراک به د بلوچستان له مالیاتو څخه پوره کوي. احمدشاه چې د ختیځ په فکر کې و، نو خپل دغه پخوانی او زړور ملګری یې عفو کړ او د هغه د کورنی یوه نجلۍ یې ځانته واده کړه. له دې امله چې تر اوسه پورې مرهټه ځواکونو پنجاب د سکهانو خواک ته سپارلی و او خپله بېرته هندوستان ته تللي وو، نو احمدشاه یو قطعه عسکر د نورالدین په مشرۍ پنجاب ته واستول، دغه لیږل شوی عسکر له سند سیند څخه پورې وتل او هاخوا تر وزیرآباد پورې ورسیدل خو هلته نور ودریدل. احمدشاه بیرته کندهار ته راغی، ترڅو د سکه او مرهټه وو د ټکولو لپاره سرتیري برابر کړي.

## هند ته اووم سفر او له مرهټه وو سره جګړه (۱۷۶۰-۱۷۶۱)

په ۱۷۵۸ کې په هندوستان کې مهمې پېښې وشوې. په پنجاب کې سکهانو پاڅون وکړ او مرهټه په شمال او مرکزي هند ور وختل، نو په دې توګه په پنجاب کې افغاني دولت او په ډیلي کې د هند دولت را وپرځیدل، دا په داسې حال کې چې احمدشاه دلته د نصیرخان په کرارولو بوخت شوی و. د مرهټه دغه سوقیات ډیر په زیاته شمیره و. سند یادتا او هولکر د ګوالیار او اندور سره یو ځای ټول د دوی په لښکرکې یو ځای شوي وو، نو کله چې منځنی هند ته ننوتل نو هلته ټولو راجپوت او جاټ ځواکونه دوی سره یو ځای شول.

د مرهټه و مشر راګونات راو (یاراګوبا) و چې په دې دومره لوی ځواک سره لکه د یوه سیلاو په شان په

ډيلي ورغی. دا مهال راګونات راو د غازي الدين ترمشرۍ لاندې يوه مفرزه په فراري نجيب الدوله پسې ولېږله. خو نجيب الدوله د روهيلکند د افغاني مشرانو په مرسته دفاع ته ودريد او ډېر وخت يې په سکرتال کې په ډېره زړورتيا سره مقابله وکړه، همدارنګه سند يادتا له خپل لښکر سره د پنجاب په موخه وړاندې ولاړ.

آدينه بيګ او سکه جګړه کوونکي دلته له سند يا سره يوځای شول او له ستليج څخه په پورې وتو سره پنجاب ته لاړل. سنديا د په زور سره له چهار محل او زين آباد سيمو څخه تيمور او جهان خان ترپيښور پورې په شا تلوته اړکړل، او په خپله د سهانپور، روهليکند او اوده (د شمالي هند اسلامي حکومتونو) د نيولو په نيامت بيرته له ستليج څخه پورې وت. غازي الدين او مرهټه چې لا دا مهال له نجيب الدوله سره په جګړه و، د سوبمن سنديا په را رسيدو سره نور هم زړور شول او خپل زور ته اړم شول. خو د اوده حاکم شجاع الدوله د نجيب الدوله افغان په مرسته او د روهيله د ځواکونو په را رسيدو سره جګړې ته پوره دوام ورکړ.

راګوبا چې د پنجاب او ډيلي له نيولو ډاډه شوی و او په اسلامي واکمنو باندې د سنديا له بريالی کيدو هم ډاډه و، هولکربې په سکندره (د جمنا کيڼ اړخ ته) کې د ملاتړ کوونکي ځواک په توګه د هغه له سرتيرو سره پريښود چې د اړتيا پر مهال مرهټه سره مرسته وکړي او په خپله خپل لوی پيشوا ته ورغی چې هغه له دغې لويې سوبې څخه خبر کړي. دا مهال احمدشاه د بلوچستان له پيښو څخه وزګار شوی و او يو ديرش کسيز لښکر يې هم چمتو کړی و، دا مهال د بولان ددرې له لارې سند ته ورسيد او مخ په پيښور روان شو. تيمور او جهان خان په اټک کې له احمدشاه سره يوځای شول. کله چې «سابا» په پنجاب کې د مرهټه حاکم او قوماندان (چې د آدينه بيګ «۱۷۵۸ مړ» ځای ناستی و) د احمدشاه له راتګ څخه خبر شو، پنجاب يې پريښود او له خپل پوځ سره يوځای مخ په سهارنپور د سنديا د لښکر خواته په شا شو.

احمدشاه پنجاب ته ننوت. دا مهال د سکه ځواکونه په هرځای کې چې و په خپلو ځايونو کې غلي کيناستل. احمدشاه په وزيرآباد کې د ميشت نورالدين له ځواکونو سره د چناب په غاړه کې يوځای شو او د هغه له کوچني ځواک سره يوځای د قطب درې له لارې له سيند څخه پورې وت او د سهارنپور په خوا روان شو.

سنديا او غازي الدين چې د احمدشاه له راتګ څخه خبر شول، ډير ژر يې په سهارنپور کې له شجاع الدوله او نجيب الدوله سره روغه جوړه وکړه او مخ په ډيلي روان شول. سنديا د ډيلي په لاره کې د احمدشاه د يرغل د مخنيوی لپاره سنګر ونيو او غازي الدين په ډيلي کې عالمګير ثاني او د هغه وزير نظام الدوله له منځه يووړل د اورنګزيب لمسی محی السنته يې هسې په نامه پاچا کړ او په خپله يې د وزير په توګه د چارو واک ترلاسه کړ. دا مهال د احمدشاه په وړاندې په منځنی هند کې د مرهټه وو درې ځواکونه وو: يو دډيلي د لارې پرسر سنديا، بل د جمنا په کيڼ اړخ کې د هولکر ځواکونه او دريم په پلازمينه ډيلي کې جنګورا او غازي الدين. ددغو ټولو ترشا د دکن د مرهټه دولت له يو زيات شمير پوځی قوت سره ولاړو. احمدشاه له خپلو ديرش زرو سرتيرو سره په سهارنپور کې د نجيب الدوله او د

روهیله سردارانو (سعدالله خان، حافظ رحمت خان، عنایت خان، دوندی خان او قطب خان) له افغانو د روهیله سردارانو مخامخ شو چې هغو سره لس زره سرتیری هم وو. حال دا چې نواب شجاع الدوله د خپلو ورکلي سره کولو په خاطر اوده ته ورغلي وو احمدشاه له روهیله سردارانو او څلویښت زره سرتیرو ډاکوټو د نوي روان شو. تیمور او جهان خان د احمدشاه د پیشدارانو په توګه مخکی مخکی روان وو وړاندې مخ په ډیلی د مرهټه لښکرو ستون (ستن) او په خپله یو زړور سړی هم و. د (بدنی) په سیمه کې ډیلی ته نیږدې باجي د افغانی پیشدار مخه ونیوله او یوه کلك جګړه ونښته. احمدشاه ډیر ژر ور ورسید او پر دښمن یې یرغل وکړ، د مرهټه لښکر زړه یې وروسوری کړ او د هغوی صفونه مات شول، خو سندیا له آس څخه راکوز شو او له خپل فداکار ګارد سره یې په دفاع لاس پورې کړ. د افغانی لښکر فشار دومره قوی و چې سندیا له خپل ګڼ شمیر لښکریانو سره مړ شو او پاتی لښکر یې تر ۲۵ میله پوری وخغلول شو.

د دغې لوبې ماتې خبر، لکه د تکې په شان په ډیلی ورپریوت او مرهټه جنګورا او غازی الدین پرته له ځنډه د جاټانو سیمو ته وتښتیدل. خو هولکر لا تردې مهال پورې به سکندره کې ټینګ و. احمدشاه په بدنی څخه نازنرل ته ورغې او د هغه پنځلس زره سپاره سرتیري د شاه پسندخان اسحق زی ترمشري لاندې د شپې په تیاره کې ډیلی ته ننوتل او د بلی دوهمی شپې په تیاره کې له جمنا څخه پورې وتل او د هولکر په لښکر یې یرغل وکړ. هولکر چې څومره دفاع وکړه وس یې ونشو، اردو یې تبا شوه او خپله یې ور شو چې د څو سو سپرو سره یوځای مالوا ته وتښتی. احمدشاه ډیلی ته داخل شو، دې پسی راجپوت مشرانو اطاعت څرګند کړ. نور جاټانو هم له مرهټه وو سره ملګرتوب پرینښود، خو احمدشاه د نوی د نظامی کلاوو د نیولو لپاره یوه قطعه سرتیری سوق کړل. دوی د (آرامګده) تر نظامی کلا پوری په بریالیتوب پرمخ ولاړل. جاټ سورج مل او غازی الدین دواړه د حافظ رحمت خان روهیله په شفاعت ربښل شول. احمدشاه د یعقوب علی خان افغان او محسن الملک ترمشري لاندې دوه زره سرتیري د ډیلي د ښار د ساتنی لپاره وګومارل او په خپله له جمنا څخه تیرشو او ۷۲ میله لرې یې (انوپ ښار) په سیمه کی قرارګاه ونیوله او د مرهټه دولت نور غبرګون ته په تمه کیناست. دا مهال احمدخان افغان بنګښ له فرخ آباد څخه شجاع الدوله اوده څخه له لس زره مرستندویه سرتیرو سره احمدشاه سره یوځای شول وروسته ورپسی لس زره نور سرتیری له کندهار څخه د عطا محمدخان او کریمدادخان په مشری ور ورسیدله، اوس نو د احمدشاه د لښکر شمیر شپیته زره سرتیری او یوه څواکمن توپچی وه.

د مرهټه و پیشوا بالاجی باجی چې کله په هندکی د احمدشاه له سوقیاتو او د مرهټه له ماتې څخه خبر شو، ټولو مرهټه مشرانو ته یې امر وکړ چې خپل نوی سرتیری راټول کړي او له هند څخه د افغانانو ایستلو ته چمتو شي. همدارنګه نوموړی د راجپوت مشرانو ته هم خبر ورکړ چې له خپلو سرتیرو سره مرهټه لښکر سره یوځای شي. خلور میاشتې تیرې شوی او د مرهټه، هندوانو او راجپوتانو یو لوی لښکر جوړ شو او ټولو مخ په شمال حرکت وکړ، پیشوا د اردو مشرتوب خپل ورور (سداشیو بهاو) ته وسپاره او خپل زوی (ویسواس راو) یې د هندوستان پرتخت باندې د کیناستو لپاره ورسره کړ. ددغه اردو نامتو افسران داوو: ملهاراو، هولکر، ماجی، سندیا، شمشیر راو او څونور. ددوی ترڅنګ یې

ددکن د مسلمانانو یوه نامتو څیره (ابراهیم خان ګاردي) هم له څلوېښت زره پلیو او سپرو سرتیرو سره ورسره کړ. وولس زره منظم سرتیری سره له چقمقي ټوپکونو زر تنه توپچي سره له شلولویو توپونو او دوه سوه کوچنیو توپونو له دې ځواک سره یوځای وو. د سپرو سرتیرو شمیرېې ۱۲۰ زره تنه او پلی سرتیری یې اویا زره وو. دوه زره او پنځه سوه جنګي او بار وړونکي پیلان او ۲۰۰ زره غوبیان او څو زره اوښان هم په دې لښکر کې وو. دغه اردو ځان سره یو ګرځنده بازار هم دلود چې له اردو سره یوځای روان و.

کله چې د مرهټه وو اردو ډیلي ته نژدې راورسید او د احمدشاه ځواکونه یې ولیدل چې لری دي، په ډیلي یې یرغل وکړ او د توری په زور یې ونیو او ټول یې لوټ کړ، خو د جمنا د سیند څپاند کیدو د افغاني ځواکونو مخه نیولې وه، په دې توګه د مرهټه ځواکونو په ډاډه زړه د ډیلي په شپیته میلي کې د ګنجپوره نظامي کلا تر یرغل لاندې راوستله. افغاني ساتونکی عبدالصمد ممن زایی له خپلو ټولو سرتوري سره د جګړې په میدان کې ووژل شو. په دې توګه ګنجپوره وپرځیده او د جمنا په ښي خواکې د احمدشاه نظامي اډه له منځه ولاړه او احمدشاه مجبور شو چې خامخا به له جمنا څخه تیریږي- ۱۴۰۰ پیلان په کار واچول شول چې د اردو وسایل ولیږدوی، احمدشاه شخصاً په خپله هم په اوبو ورګډ شو، د مرهټه د ساحلي ساتونکو ګوزارونه پیل کړل، د خیبري سپاهیانو د دوه زریز پوځ قوماندان احمدخان له خپلو سرتیرو سره یا په اوبو کې ډوب شول یا هم ددښمن په ګوزارونو ووژل شول، خو سره له دې هم افغاني اردو د (پاکیت) په سیمه کطي له جمنا څخه پوری وت او ددښمن په لښکر پسې ګنجپوری خواته روان شو، مرهټیانو یواځې د پاني پت ډګر د خپل ډیر لوی پوځ د حرکاتو لپاره مناسب بللی و، نو پخوالا له ګنجپوری څخه هغه خواته تللی وو او ددغه ډګر په شمال لوري کې یې خپل سنګرونه او استحکامات جوړ کړي وو او ۲۰ زره سپاره سرتیری یې د (سنبلک) په سرای کې ددښمن د راتګ د لارې په سر اچولي وو.

د احمدشاه د لښکر پیشدار او د لښکر امیرشاه پسند خان چې کله سنبلک ته ورنژدې شو، د یوې کلکې جګړې په ترڅ کې یې ددښمن پیشقر اول له منځه یوور، ورپسې احمدشاه پاني پت ته را ورسید او د مرهټه وو په وړاندې یې سنګر ونیو. دغه دوه لښکر دري میاشتې یو د بل په وړاندې وجنګیدل او په بیلابیلو جګړو کې یې یوبل وټکول، ددغې مودې په ترڅ کې د احمدشاه نظامي وړتیا څرګنده شوه. هغه په یوه پردي هیواد کې له داسې یوځواک سره جګړه کوله چې شمیر یې دده د پوځ په پرتله دري ځله زیات و، هغه وکولای شول چې د ۳۰ میلو په دایره کې ددښمن ارتباطي کرښې هر لوري ته پرې کړي او ټول هغه مرستندوی مواد او خوراکي شیان یې ونیول چې مرهټه ووته رارسیدل، نو ځکه ورو ورو د مرهټه وو په لښکر کې د غلې د کاختي ګوابښ راڅرګند شو او دوی یې په ویره کې واچول، په دې توګه مرهټیانو د حساب پاکولو په خاطر په یوه پریکنده جګړه پیل وکړ.

دغه جګړه د ۱۷۶۱ کال د جولای په شپاړسمه د پاني پت په ډګر کې پیښه شوه. په پیل کې د مرهټه وو دواړه اړخونه پرمخ ولاړل، افغاني ښي لوري ددغه پرمختګ مخ په ډیره ښه ډول ونیوله، ځکه چې دوی پوهیدل چې دغه جګړه د افغانانو لپاره د مرګ او ژوند حیثیت لري او که له ماتي سره مخامخ شي نو یو

بیرته افغانستان ته ولاړ نشي، خو د لښکر کینه خوا له کلک خطر سره مخامخ شوه. د دښمن پر وړاندې بیرته د لښکر قوماندانه په خپله د پیشوا زوی ویسواس راو ورکوله او د هغه مخه کې ځلوېښت زره سپاره پرته له ګارد او وروسته ۲۴۰۰ جنګي پیلان روان و او یرغل یې پیل کړ. دغه یرغل دوه مره ځواکمن او پیاوړی و چې د روهیله مخکښ لس زره سرتیري له نجیب الدوله او سردار عنایت خان سره یوځای د دښمن په مخ کې راګیر شول او پنځه زره مرستندوی سرتیري له خپل قوماندان عطا محمدخان سره یوځای په یرغل کې له منځه ولاړل. وروسته شجاع الدوله له نورو لس زره سرتیرو سره د دښمن مخې ته وردانګل، خو ویې نشو کولای چې د مرهټه د سیلاو مخه ونیسي. د هغوی لوی ځواک په پرله پسې توګه افغاني لښکر تر اورلاندې نیولی و او د عمومي ماتې خطر یې رانژدې کړی و. احمدشاه چې له لوړې برخې څخه د جګړې جریان او د دښمن بې ځنډه پرمختګ ته کتل، زړه یې راټینګ او خپل ځان سره دولس زره زغره والو سپرو ته یې امر وکړ چې زر زر تنه دي یوبل پسې شي او د دښمن د لښکر زړه دې د ټوپکو تر اور لاندې ونیسي، همدا امر عملي شو او ویسواس راو له خپلو ډېرو افسرانو سره یوځای د افغانی زغره لرونکو سپرو تر اورلاندې له منځه ولاړ. د پیشوا د زوی په مړینې د مرهټه لښکر ولړزاو او هغوی یې شاته تګ باندې اړ ایستل. په همدې مهال کې افغاني توپچي د دښمن جنګي پیلان له خپل ګوزار لاندې راوستل، پیلان له ډګر څخه وتښتیدل او د بیرته ګرځیدو په مهال یې خپل سرتیري تر پښو لاندې کړل. د دغه آشوب په ترځ کې افغاني لښکر پاځید او په هرځای کې یې د دښمن پوخ یرغل لاندې راوست. د مرهټه وو لښکر هم په زړورتیا سره جګړه کوله، خو لوی سرداران یې ووژل شول. هولکر، شمشیر راو او ماجی سنیدا تښتیدلي وو، نو بې سرداره لښکر هم د تېښې لار غوره کړه او تر څلوېښت میلو پورې د افغاني رسالو له خوا وځغلول شول. په دغه جګړه کې د مرهټه وو د لښکر تلفات ډیر زیات وو له وژل شویو پرته ۲۲ زره یې بندیان شول، ۵۰۰ پیلان، څو زره اوښان، ۵۰ زره آسونه او ۲۰۰ زره غویان یې د جګړې په ډګر پرېښودل، د افغانانو تلفات لږ څه کم و، سل ګونه له لسو څخه تر پنځلس زرو. تنو پورې به وو. په دې توګه د پاني پت تاریخي جګړه پای ته ورسېده. احمد شاه مرهټه په ټولو نیول شویو اسیرانو کې کوم چې مسلمانان وو د ابراهیم خان کاردي د کړی په ګډون ټول اعدام کړل او هندوان او راجپوتان یې خوشي کړل. احمد شاه پلازمېنې ډیلي ته راستون شو. دا مهال د انګریزانو د شرق الهند کمپنی په پوره غور سره هر څه څارل. دوی په پاني پت کې د راجپوتانو او مرهټه له ماتې څخه ډېر زیات خوښ شول، خو د یوې لرې راتلونکې په هکله پریشانه ول، دا ځکه چې دوی پوهېدل که چېرې احمد شاه ابدالي د هندوستان پر تخت کښېني، په هند کې هیڅ ځواک د هغه په وړاندې سر نشي پورته کولای او د هندوستان ډېر لوی ځواک (مرتـه) هسې هم له منځه تللی او د پنجاب سکهان پر ټول هندوستان د واکمن کېدو توان نه لري او مسلمانو نوابانو او د هند راجا طبقې په ټول هندوستان کې احمد شاه ته سر ټیټ کړی و، راجپوتان او جټان هم ورته تسلیم شول. په دې توګه احمد شاه کولای شول چې د هندوستان سراسري وحدت او د مرکزي دولت ځواک او سیاسي پیاوړتیا بیرته ټینګ او ډاډمن کړي. هغه مهال د کمپنی د ګوتو په شمار انګریزانو نشو کولای

Scanned by CamScanner

چې په آسانۍ سره د هندوستان په شان يوه لويه وچه له ستوني تېره کړي. په تېره بيا په داسې حال کې چې احمدشاه کولای شول چې په دوو مياشتو کې له هند او افغانستان څخه يو ميليون لښکر برابر کړي، خو په هغه مهال کې انګرېزانو ته ايله د افريقا له شاخ څخه په تېرېدو سره د يوه کال په ترڅ کې ملاتړ ځواکونه را رسيدلای شول خو د انګرېزانو دغه تشويش هم ډېر ژر له منځه ولاړ. دا ځکه احمد شاه له هندوستان سره يوه داسې معامله درلوده چې په هغې کې يې د اروپائيانو د استعمار هيڅ فکر هم نه وکړي. کله چې احمد شاه ډيلي ته ورسېد د هندوستان لويه امپراطوري يې د بابري کورنۍ يوه نيم ژواندي شهزاده (عالي ګوهر د عالمګير ثاني زوی) ته وسپارله. خو په غياب کې د پلار نائب السلطنه شو. سره له دې چې احمد شاه په دې باندې پوهېد چې دغه زوی او پلار د هندوستان ګډه وډه شهنشاهي نشي اداره کولای، نو د يو څه چاره کولو لپاره يې سمدستي نواب شجاع الدوله د اودې صوبه دار د هند وزير وټاکه او نجيب الدوله افغان يې د هندوستان د سپهسالا په توګه وګومار. له دې وروسته احمد شاه ډېر په بېړه افغانستان ته راستون شو. ګواکې په همدې ټاکنو سره يې په هندوستان کې خپله وروستۍ دنده پای ته رسولې وي. دا څرګنده نه ده چې آيا دغه مدبر او هوښيار او ډېر مقتدر شخص د کوم ډول تلقين تر اغېزې لاندې راغلی و چې د هندوستان چارې يې داسې پېچلې پرېښودې. په هر صورت، کله چې احمد شاه بابا پنجاب ته راورسېد، د پنجاب حکومت يې زين خان مهمند ته ورکړ او په خپله د پېښور او کابل له لارې کندهار ته ولاړ. همدا مهال يې هلته د کندهار د اوسني ښار د بنسټ ډېره کېښوده او د هرات چارې يې شهزاده تيمور ته وسپارلې (١٧٦١). کله چې د هند انګرېزانو دا حال وليد خپلو راتلونکو برياوو باندې ډاډه شول او ١٧٦١ م کال يې په خپلو ليکنو کې (يو مهم کال) وباله دا ځکه چې پېښې يې ټولې د دوی په ګټه وې: د مرته ځواکمن دولت چې د دوی د ځواك د پرمختګ دېوال و ونړېد، د مرهټه وسترمشر په همدې کال ومړ او ځلورم مذهبي مشر يې په ډېر لږ ځواك سره پاتې و، د هند په جنوب کې د فرانسوي ځواکونو واك د انګرېزانو په وړاندې پای ته ورسېد. د فرانسې د جګړې صلابت هم په دکن کې د نظام علي (نظام) په لاس ووژل شو چې هغه د فرانسې کلك پلوی و خو د دکن دغه حاکم هغه له منځه يووړ. پورتنيو ټولو بدلونونو په هندوستان کې د انګرېزانو د پرمختګ لپاره لاره هواره کړه. خو په دغه کال کې يوه پېښه د کمپنۍ په ګټه نه وه او هغه په ميسور کې د حيدر علي سلطان کېدل و. نوموړی هغه نامتو مجاهد و چې د ميسور د خلکو مبارزات د هغه په لارښوونه د هندوستان د تاريخ يوه ځلانده پاڼه جوړوي.

## اتم سفر، پنجاب ته ۱۷۶۱ - ۱۷۶۳

کله چې احمد شاه له هندوستان څخه بېرته افغانستان ته راستون شوی و، د پنجاب سکهانو پاڅون کړی و، دا ځل يوه بانفوذه سکه چې (جيساسنګ) نوميد، د پاڅون لارښوونه په غاړه اخيستې وه او امرتسر يې د يوې نظامي کلا په توګه د خپل پوځي ځواك د لښکر کوټ په توګه ټاکلې و. په کشمير کې د هغوی افغاني ضد تبليغاتو او په سهرند ډګر کې يې نظامي تاړاکونو اغېزه وکړه او بيا يې

وربې د لاهور ښار ونيو او افغاني والي زين خان مهمند يې د کوټ په کلي کې کلابند کړ اړ وروسته یا هغه د سکهانو په وړاندې په یوه جګړه کې ووژل شو، دا مهال د کشمیر سکهانو هم پر افغاني حکومت یرغل وکړ. ددې خبر په اورېدو سره احمد شاه په بېړه مخ په پنجاب ورغی او د «چندالہ» او «کوټ» په سیمو کې یې د سکهـ څواکونه له کلکې ماتې سره مخامخ کړل او په سهند کې یې هم د هغوی اوبازره لښکر تارومار کړ. احمد شاه د سرهند د نظم د ډاډه کولو لپاره دډیلي سپهدار نجیب الدوله افغان را وغوښت او دنده یې ورته وسپارله چې ددغې سیمې کارونه سم کړي. د سکهانو د غلي کولو لپاره یې د پټيالي او سرهند حکومتونه یوه سکهـ سردار «امیر سنګ» ته وسپارل تر دې مهال پورې کشمیر ته د احمد شاه لیږل شوی افسر «نورالدین» شورشي څواکونه له منځه یوووړل او کشمیر یې هم واړمن کړ. احمد شاه د ناوړه، هوا او د سفر د ستونزو له امله ناروغ شو او پر مخ یې یوه دانه هم پیدا شوه په ۱۷۶۳ م کال د ملتان، ډېره اسمعیل خان او د ګومل او غزني له لارې کندهار ته راغی. داسې احتمال شته چې د پوزې په سرطان اخته شوی و. هغه بیا تر ۱۷۶۷ م پورې د هېواد دننه او بهر کوم سفر ونه کولای. په دې ترڅ کې د سکهانو زیاتېدونکو څواکونو چې په پټه لمسول کېدل ورځ په ورځ زورور انیسته او په پنجاب او سرهند کې یې کلك یرغلونه کول او په خپلو ۴۰ زره کسیز لښکرو سره یې په یرو سیمو کې افغاني څواکونو ته ماتې ورکړې او د دوی څواك دومره پیاوړی شو چې ډیلي یې هم کلابند کړ. له سکهانو سره جټانو او مرهټه وهم لاس یو کړ نو ځکه احمد شاه په ۱۷۶۷ م کې یو ځل بیا خپل نهم سفر پیل کړ او مخ په پنجاب ورغی افغاني لښکر د سکهـ څواکونو په پنجاب کې له ماتې سره مخامخ کړل او نورو سیمو کې یې تېښتې ته اړ ایستل او په خپله بېرته کندهار ته راغی. احمد شاه پوهېد چې په پنجاب کې سکهـ څواکونه په څواکمن کېدو دي. خو د اوږدې مودې لپاره په پنجاب کې نه پاتې کېدلای. په همدې کال یې وزیر شاولي خان بلخ ته واستاوه او د بخارا د جنیدي سلسلې له وروستي پاچا عبدالعزیز سره یې یو داسې تړون لاسلیك کړ چې د هغه له مخې به آمو سیند لکه د پخوا په شان د افغانستان او بخارا پوله وي له هغه وروسته شاولي خان بدخشان ته ولاړ او د راتګ پر مهال یې د فیض آباد له ښار څخه د حضرت محمد (ص) خرقه له ځان سره کندهار ته راوړله چې تر نن ورځې پورې په یوه ځانګړې ودانۍ کې ساتل کېږي.

## د هېواد دننه لسم سفر (۱۷۶۹)

احمد شاه په ۱۷۶۹ م کال خبر شو چې د خاص خراسان چارې ګډې وډې شوې دي. د نابینا «ړوند» شهرخ زامن هر یو نصرالله مرزا او نادر مرزا د واك د تر لاسه کولو په خاطر یو بل سره نښتي دي او له دغه اړدوړ څخه د حکومت لوی مامورین او زورور فیوډالان ناوړه ګټه اوچتوي. احمد شاه ددې خبر په اورېدو سره د مشهد خواته ولاړ. نصرالله مرزا چې مخکې د ایران د پاچا کریم خان زند له دربار سره اړیکې ټینګې کړې وې، په مشهد کې مقابلې ته چمتو شو. د تون او طبس حاکم علیمردان خان هم سرغړونه پیل کړه او مرزا نادر هم ورسره و. احمد شاه د مشهد ښار کلابند کړ او سپهسالار جهان خان

او د بلوچستان والي نصیر خان یې د علیمردان خان تکولو پسې ولېږل. کله چې نصر الله مرزا د احمد شاه بریالیتوب ته وکتل، ژر تسلیم شو او شهرخ خپله لور (ګوهر شاد) د احمد شاه زوی تیمور ته واده کړه او خپل زوی یزدان بخش یې هم د برمته په توګه ورته وسپاره. دا مهال جهان خان او نصیر خان هم چې تون او طبس کې یې سوبه ګټلې وه او علیمردان یې وژلی و بېرته راستانه شول. احمد شاه بیا هم د نادر شاه افشار په درناوي د خراسان د ولایتونو واک د شهرخ په نوم پرېښود او په ۱۷۷۰ کې بېرته کندهار ته راغی. همدا د احمد شاه وروستی سفر و. د احمد شاه ناروغي زیاته شوه او په ۱۷۷۳ م کې د کندهار له ښار څخه د معروف سیمي ته د کود توبه سیمي ته ولاړ دا ځکه چې د هغه ځای هوا لږ څه ښه وه. احمد شاه له دغه سفر څخه مخکې په یوه لویه غونډه کې خپل دوهم زوی تیمور د ولایت عهد او د خپل ځای ناستي په توګه خلکو ته ور وپېژاند خو دده دا کار د هغه مهال له دود سره سم نه و، ځکه چې تیمور یو مشر ورور درلود چې د دود او عادت له مخې باید هغه د پلار پر ځای ناست وای، خو احمد شاه نه غوښتل چې دود دستور د دولت د ګټو په پرتله غوره وبولي، دا ځکه چې ده ته تیمور د سلیمان په پرتله هوښیار ښکارېده. وزیر شاولیخان چې د سلیمان خسر و، هم دا دول تاکنه نه غوښتله او خپل زوم یې د سلطنت لپاره وړ باله. کله چې شهزاده تیمور د خپل پلار له ناروغي او له خپلي ولیعهدي څخه خبر شو او له هرات څخه کندهار ته د راتګ په لاره کې و، شاولي خان د هلمند او کندهار ترمنځ د ناروغ احمد شاه په نوم هغه ته د هرات خواته د بېرته تګ امر وکړ. احمد شاه توبه غره کې په ۱۱۸۷ ق کې د رجب په میاشت (۱۷۷۳ م. جون) کې د پنځوسو کالو په عمر وفات شو او په کندهار ښار کې خاورو ته وسپارل شو چې زیارت یې اوس هم نامتو دی.

## د تیمور شاه د سلطنت پر مهال (۱۷۷۳ - ۱۷۹۳)

تیمور شاه (په ۱۷۴۲ کې په مشهد کې زېږېدلی و) د پلار د مړیني پر مهال د هرات والي و. هغه د زده کړو لرونکی او په دري ژبه کې شاعر و. لکه هماغسې چې پلار یې د پښتو ژبې شاعر و زامن یې هم (هر یو: شاشجاع او نادر مرزا) د دري ژبې شاعران او لیکوالان وو. تیمور پرېکړه وکړه چې د قبایلو خواکمن خانان د خپلواک سلطنتي نظام تابع کړي، نو ځکه یې حکامو او وزیرانو نشو کولای چې د قبایلو له فیوډالانو څخه د چارو په تر سره کولو کې مرسته وغواړي او یا هم په خپله له ټاکلي حد څخه زیات ساتونکي ځان سره ولري. نوموړي د مامورینو په ټاکلو کې زیاتره د منځنۍ طبقې وګړي غوره بلل او نظامي ځواک یې په خپل لاس کې ساتلی و. تیمور شاه له تجمل او عشرت سره مینه درلوده. لس مېنځې یې له بېلا بېلو قومونو څخه وې لکه پښتنې، افشار، هندي او کشمیري. هغه له خپلو دغو لسو ښځو څخه ۳۳ زامن او ۱۳ لورګانې درلودې. دده مهم زامن (په افغانستان کې د مثبت او یا منفي سهم په لرلو سره) دا وو: همایون، محمود، فیروزالدین، عباس، زمانشاه او شجاع الملك.
تیمور شاه په داسې یو مهال کې واکمن و چې په اروپا کې یوه مهمه تاریخي پېښه راغلې وه او د اروپا زړه نړې ولړزېده. هغه د فرانسې انقلاب (۱۷۸۹ ــ ۱۷۹۰) و چې هلته یې فیوډالي استبدادي ماني

Scanned by CamScanner

ړنوله او د هغې پر ځنډواله یې د پانګوالي د دیموکراسي توغ ورپاو او د بشر حقوق یې اعلان کړل. خو د افغانستان او فرانسې تر منځ تولنیزو او تاریخي شرایطو دومره توپیر درلود چې په فرانسه کې د مطلقه سلطنت او استبداد په وړاندې انقلاب یو مترقيّ او اوچت ګام و. خو په افغانستان کې د مرکزي سلطنت ټینګول یو مخ په وړاندي ګام و.

له دې امله چې د احمد شاه تر مړینې وروسته تیمور شاد د پلار پر ځای ولیعهد و. نو خلکو د هغه ترنوب ومانه او له هرات، هزاره او ایماق څخه یې یو لښکر جوړ او له هرات څخه د کندهار پر لوري روان شو. تر دې مهال پورې وزیر شاه ولي خان خپل زوم په کندهار کې په سلطنت کېنولی و او خپل زامن هر یو دوست محمد او شیر محمد یې غلجایي کلات او بلوچستان ته د خلکو د ملاتړ تر لاسه کولو. بیعت او د نظامي مرستې د تر لاسه کولو په خاطر ولېږل خو کله چې خلك د کندهار خوا ته د ولیعهد په راتګ خبر شول، نو د هغه پلوي توب یې غوره وباله. شهزاده سلیمان چې دا حال وکوت و پاچاهي له دعوا څخه تېر شو او په ناپیلي توګه د تیمور شاه راتګ ته په تمه کېناست د دربار اشرافو هم ډېر ژر د ولیعهد اطاعت وکړ لکه مدد خان اسحاق زی، برخوردار خان او سردار جهان او نورو- وزیر شاه ولي خان د درباري سیالي په منځ کې یواځې پاتې شو، په تېره بیا کله چې دده زوی دوست محمد خان له کلات څخه د بېرته راتګ پر مهال د عبدالله خان دېوان بیګي په کلا کې کوز شو او بیا هلته هغه بندي کړ. شاه ولي خان د دیوان بیګي د رضایت په خاطر چې خان یې د تیمور شاه پلوی ښوولی و په خپله له خپلو دوو نورو زامنو هر یو شکر الله او آزاد خان سره د هغه کورته ورغی. خو عبدالله خان دیوان بیګي دوی د نظر بند په توګه خان سره وساتل او بیا یې تیمور ته وروستل. د دوی کاروان د فراه په ولایت کې د تیمور له لښکر سره یو ځای شول تیمور شاه ته چې د داخلي تاج ښونکو موجودیت د سلطنتي واك له منځه وړونکی وبرېښېد په غیابي توګه یې د شاه ولي خان او د هغه د زامنو د اعدام امر وکړ چې انکو خان بامیزایي او اسلام خان پوپلزایي دغه حکم ډېر ژر عملي کړ. د تیمور شا دغه کار هغه لومړنی سپرغۍ وه چې د لویو خانانو په درمندونو ورولوېده او د سیمه یزو خانانو او فیوډالانو صف یې د مرکزي دولت په وړاندې راجوړ کړ. د تولنیزو شرایطو سره سم دا یوه طبیعي خبره وه، دا ځکه چې د پېړۍ د څلورمې برخې په ترڅ کې د احمد شاه له دوران راهیسې د ابدالیانو د فیوډالي ځمکوالي وده دومره برید پورې رسېدلي وه، چې لویو فیوډالانو د خپلو ځمکو د پراختیا لپاره د مرکزي دولت د پراختیا مخه نیوله او د کورنیو جګړو اور لګولو ته چمتو وو، خو احمد شاه ددغه فیوډالانو، ملوك الطوایفي مخه نیولې وه. کله چې احمد شاه وفات شو نو داسې زر تیمور شاه یو کلك معنوي واك نه و تر لاسه کړی، نو ځکه د ملوك الطوایفي ویده روح راویښ شو او په لمبو یې پیل وکړ. په دې توګه د ځواکمنو فیوډالانه بغاوت له یوې خوا او د ابدالي دولت په لاس د نیول شویو سیمو د خلکو پاڅون له بلې خوا ددې لامل شول چې د احمد شاه د زامنو پر مهال ابدالي دولت ضعیف شي. لومړی خو شاه ولیخان یو په خپل لاس کېنولی پاچا را منځته کړ چې نورو ځانانو ورسره لاس یو کړ. خو نورو سیالو خانانو لکه عبدالله خان دیوان بیګي او نورو یې مخالفت وکړ.

تیمور شاه چې ځان د افغانستان مستحق پاچا ګانه، نه یې غوښتل چې له فیوډالانو سره په جوړ جاري

کې د مرکزي دولت ځواك کمزوری کړی، نو ځکه یې شاه ولیخان چې د ابدالي کورنی او دربار یو نامتو څېره وه له منځه یووړ او د هغه زوی مختار الدوله (شیر محمد خان) یې له رسمي دندو څخه لرې کړ. سردار جهان خان سپهسالار هم له واك څخه لرې شو (نوموړي هماغه نامتو جنرال و چې څلور کاله وروسته په ۱۷۷۷ م کې د فراه په دلارام کې په یواځیتوب کې ومړ او زوی یې کریم خان د سند غاړو ته په ژوند کولو محکوم شو). له دې امله چې د ابدالیانو نور نامتو خانان د کندهار په ښار کې په چارو باندې واکمن وو او خپلو قبیلوي ځواکونو ته ډېر نژدې وو او لا یې هم ځانونه له پاچا سره په واك کې شریك ګڼل، تیمور شاه د خپل سلطنت پر لومړي کال باندې کندهار پرېښود. کابل یې د پلازمېنې په توګه غوره کړ چې قبیلوي قیود پکې نه و تیمور شاه خپل وزارت شیخ عبداللطیف جامي هروي ته او د خزانې چارې یې التفات خان هندي او د استیفا دیوان یې ملا عبدالغفار هندو ته چې مسلمان و وسپارل. قاضي فیض الله خان دولتشاهي چې یو شاه پرست سړی و هغه یې خپل مشاور وټاکه دولس زره سرتیري یې د محمد خان بیات تر قوماندانۍ لاندې محافظ وټاکل. په لویو خانانو کې یې یواځې هغوی د دولت په خدمت کې وګومارل چې پرته له چون او چرا څخه یې د پاچا اطاعت ته غاړه اېښوده (لکه نور محمد خان بابري امین الملك، میر هزار خان الکوزایي، فتح الله خان سدوزایي او نور) د تیمور شاه خپلواك او مطلق العنان چلند د فیوډالانو مخالفت څخه ډك چلند نور هم ګړندی کړ. د بېلګې په توګه په کندهار کې ابدالي هغو خانانو چې خپلې ګټې یې غوښتې د تیمور د واکمنۍ په هماغه لومړي کال یوه خطرناکه نقشه جوړه کړه او ویې غوښتل چې د هغه د وسلې په واسطه له منځه یوسي او واك یوه لاسپوخي پاچا ته وسپاري. ددغه کار لپاره یې یو سپین ږیری سدوزایي (عبدالخالق) چې د سند د ولایت د مالیاتو اجاره ورسره وه او ډېر شتمن و د پاچاهي لپاره رامخکې کړی و او د کندهار ښار یې ونیو. غلجي خانانو هم ابدالي خانانو سره لاس یو کړ او د ۲۵ زرو شاوخوا وسله وال خلك یې ټول کړي او په ۱۷۷۴ م کال مخ پر کابل روان شول. دا مهال د تیمور د لښکر یوه برخه د بلخ د یاغي شوي والي قباد خان ټکولو ته تللي وو، سره له دې چې قباد خان د دولت د لښکر په وړاندې له ماتې سره مخامخ شو او بیا یې خپلو ملګرو وواژه، خو سمدستي د پلازمېنې ځواکونو د کندهار د اړودوړ د غلي کولو لپاره بس نه وو، نو ځکه تیمور شاه په خپله له لس زره شاهي عسکرو او یو، ځواکمن توپچي سره یو ځای د هغوی مخې ته ورووت او د شش ګاو په سیمه کې (د کابل او غزني تر منځ) یې ابدالي او غلجي اړدوړ کوونکي وټکول، د اړدوړ کوونکو خانانو له ډلې څخه دوه تنه دلاور خان او پاینده خان چې د عبدالخالق په پلویانو کې شمېرل کېدل له هغه څخه را واوښتل او تیمور شاه سره یو ځای شول او د مددخان او سرفراز خان لقبونه ورکړل شول. سرفراز خان هغه څوك و چې وروسته بیا د محمد زایي کورنی مورث وګڼل شو. تیمور شاه د ششګاو په جګړه کې د مقابل لوري دوه زره تنه ور ووژل او نور یې سره وشغلول. عبدالخالق د جګړې په ډګر کې ونیول شو او ړوند شو او نور ملګري یې ټول اعدام شول. همدارنګه ابدالي خانان چې په خپلمپه کابل کې وو خو د کورنی غړي یې په کندهار کې اړدوړ کوونکو سره یو ځای شوي وو، د عبدالله خان دیوان بیګي په ګډون ټول بندیان او له کاره لرې شول او هغه

مالیات چې پخوا ورته معاف شوي وو ور څخه واخیستل شول.

تیمور شاه د شنګاو له نیولو وروسته د خپلو مخالفو فیوډالانو د پاکولو لپاره، مخ په کندهار ورغی او وروسته تر لټون څخه هر مخالف چې په لاس ورغی هغه یې وواژه او د پاینده خان بارکزایي ورور رحیم داد خان یې ننګرهار ته تبیعید کړ. کله چې تیمور کندهار تصفیه کړ. کابل ته راستون شو او مدد خان اسحق زائي یې لوړ مقام ته اوچت او د امیر الامرائي (سپهسالاري) رتبه یې ورکړه. هغه دوه ځله د اوسني خراسان (مشهد او نیشاپور) د ولایتونو د فیوډالانو پاڅونونه وټکول او لکه د احمد شاه د دوران په شان یې ړوند شهرخ د هغه ځای والي کړ او په بل ځل یې د چناران کلا کې د فیوډالانو اړدوړ غلي او هغوی یې تسلیم کېدو ته اړ کړل. په دغه ولایت کې بل ځل دریم اړدوړ د احمد خان نورزایي له خوا چې د تیمور شاه له خوا لېږل شوی جنرال هغه هم په کلکه سره وټکاو. په ۱۷۷۹ م کال د پېښور یوه لوی ځمکوال او غټ ملاك فیض الله خان چې د خلیلو د قوم مشر و د هغه ځای له یوه بل روحاني او لوی ځمکوال پیرزاده میان محمد سره لاس یو کړ چې تیمور شاه به بې خبري سره له منځه یوسي. نو د ژمي په ترڅ کې چې کله تیمور شاه له کابل څخه پېښور ته ولاړ او د هغه ځای په بالاحصار کې میشت شو، فیض الله د سکهانو له پاڅون څخه ګټه پورته کړه او د یو قومي لښکر د جوړولو اجازه یې ور څخه تر لاسه کړه، نو یوه ورځ په ناڅاپي توګه له خپل همدغه لښکر سره یو ځای د عرض سلام په نامه راغی او کلا ته ننوت او له توري سره یې د بالاحصار بام ته وخوت او هلته یې شاهي ګارد ته بلنه ورکړه او ټول عسکر راتوی شول او په کلا کې د لاس او ګرېوان یو کلکه جګړه ونښته. د پاڅون کوونکو شپږ زره مړي پر ځای پاتې شول او نور وتښتېدل. تیمور امر وکړ چې په هغوی پسې ورشي، فیض الله او د هغه زوی چې نیول شوي وو هغوی یې اعدام کړل، خو پیرزاد میان محمد د دربار یانو په شفاعت سره له وژلو څخه خلاصون وموند. د فیض الله خان بل ملګري ارسلا خان مهمند چې د خیبر غاښي یې نیولي و او کابل ته یې لاره تړلې وه، باجوړ ته وتښتېد، خو وروسته بیا په ۱۷۹۱ کال کې قاضي فیض الله خان هغه تسلیم کېدو ته اړ کړ او دربار ته یې راوست. تیمور شاه ډېر ژر هغه اعدام کړ. همدارنګه فتح خان یوسف زایي چې د سند تر غاړې او مظفر آبا کې یې پاڅون کړی و د فیض طلب خان په لاس دربار ته حاضر کړ او بیا یې اعدام کړ. په دې توګه تیمور شاه د مرکزي دولت ځواك وساته. له هغه وروسته کابل ته راستون شو او دوه کاله نور یې آرام تېر کړل. په دغو جګړو کې فیوډالانو د فیوډالي دولت د فشار په وړاندې د خلکو له عمومي ناخوښۍ څخه ګټه اوچتوله او د مرکزي دولت په وړاندې دربدل او د بزګرانو لاربنوونه یې کوله.

تیمور شاه به هر کال خلور سرې میاشتې په پېښور کې تېرولې. په ۱۷۸۱ کې کله چې په پېښور کې و، خبر شو چې سکهانو یو ځل بیا پاڅون کړی او پر ملتان یې یرغل کړی او هغه ځای یې نیولی دی. تیمور شاه د ملتان په نیت وخوځېد. د هغه پیشدار زنګي خان د سکهانو د مقاومت کوونکي ځواك خارجې باشي ته ماتې ورکړه. تیمور شاه د ملتان د حکومت چارې شجاع خان ابدالي ته وسپارلې او سپهسالار مدد خان یې د سند د ولایت د ټینګښت او ډاډ سنتیا لپاره واستاوه او په خپله بېرته کابل ته راستون شو.

Scanned by CamScanner

په سند کې سيمه ييزو فيوډالانو لکه مير فتح خان تالپوري. محمد بهاول خان او حافظ الملك داود پوتره هر يوه د خپلواکي ناري وهلې او دولت ته يې د مالياتو له ورکولو څخه ډډه کوله مدد خان تالپوريان تول وټکول او په خپله بېرته کابل ته راغی، خو دغه عمليات او کړنې د لنډې مودې لپاره وې او په ۱۷۸۲ م کال کې د سند خانانو او خلکو يو ځل بيا سر راپورته کړ. دا ځل احمد خان نورزايي د تيمور جنرال هغوی ښه کلك ماتې سره مخامخ کړل او تسليمي ته يې اړ ايستل او د مالياتو ورکول يې ومنل. تيمور شاه چې خپله سند ته تللی و، د سند حکومت يې مير فتح علي خان تالپوري ته ورکړ او بېرته کابل ته راغی په کابل کې يې لا دمه نه وه جوړه چې په همدغه ۱۷۸۲ کال کې په کشمير کې يوه نوې پېښه وشوه. د کشمير حاکم آزادخان (په کشمير کې د احمد شاهي دورې والي د کريم داد خان عرض بيګي زوی) سرغړاوي پيل کړ او ماليات يې کابل ته درالېږلو پر ځای په يوه نوي درې زره کسيز پوځ باندې ولګول. سپهسالار مدد خان کشمير ته ورغی او هغه پسې تيمور شاه پېښور ته راورسېد، آزاد خان په زړورتيا سره دفاع وکړه خو ماتې سره مخامخ شو، نو ځکه د خپل خسر رستم خان کلا ته ورغی، خو په دې شکمن شو چې رستم خان به هغه تيمور ته وسپاري، نو ځکه يې ځان په تومانچه وواژه. له هغه څخه وروسته تيمور مخالفينو ته د افغانستان دننه د پاڅون هيڅ موقع ورنه کړه او د مرکزي دولت ځواك يې وار په وار ټينګ کړ.

خو د افغانستان تر څنګ: په ايران کې د کريم خان زند تر مړينې وروسته ملوك الطوايفي ګډوډيو مرکزي دولت له منځه يوړ او هېواد يې له پښتو وغورځاو نو ځکه افغانستان له دغه هېواد سره کومې ښې يا بدې سياسي اړيکې نه درلودې. په ختيځ او جنوبي هندوستان کې انګرېزان په چټکۍ سره د پرمختګ په حال کې وو، په پنجاب کې يې د سيده لاسوهنې وار نه و موندلی. سمدستي تيمورشاه د هند له لوري هم لکه د ايران په شان کوم تشويش نه درلود، خو دا ددې معنا نه لرله چې ګواکې انګرېزا د پنجاب او افغانستان په هکله غافل و او په پټه يې په خپلو مغزو کې ورسره کار نه درلود يا يې کوم فعاليت نه کاو، خو د افغانستان په شمال ګاونډي کې د بخارا د اميرانو يوه نوې لړۍ د مانفيت د کورنۍ په اړه رامنځته شوې وه. د هغوی مشر مير معصوم شاه مراد (۱۷۸۵ – ۱۸۰۰) يو پراختيا غوښتونکي سړی و. چې په ۱۷۹۵ م کې يې تاشکند ونيو. سره له دې چې په بل کال بېرته تاشکند د يونس خواجه لاس ته ولوېد، خو له هغه څخه وروسته تاشکند څو ځله د بخارا او خوقند تر منځ لاس په لاس شو، تر څو چې د روسيې د تزاريانو واك په دغه سيمه باندې ټينګ شو او ټول يې له منځه يووړل. که دا پېښه نه وای شوې شاه مراد د افغانستان دولت ته سرخوږی پيدا کولای شو. د بېلګې په توګه هغه په ۱۷۸۸ کې د افغانستان په مرو ولايت باندې په يوه ځواکمن پوځ سره راغی او مرو ولايت يې له افغانستان څخه ونيو. دغه متعصب سړی د مروې يو شمېر خلك چې شيعه مذهبه وو، اړ کړل چې يا خپل مذهب بدل کړي يا بخارا ته وتښتي. د مروې خلکو چې د تيمور شاه په مهال د مذهبي مساواتو په سيوري کې ژوند کاو، د بخارا ددغه نوي امير له تېل شوي زور څخه کوکارې وکړې. تيمور شاه په ۱۷۸۹ کې له يوه ۳۰ زره کسيز لښکر سره بلخ ته ورغی، شاه مراد خان له بخارا څخه جيحون ته ورتېر

Scanned by CamScanner

د هغه ورور عمرخان توش بیګي له خپلې یوې مفرزې سره آقچې ته ورغی او شو او ګلف ته ورسېد، علي وردي خان له خپلو کنډکونو سره امر ترلاسه کړ چې د تیمور شاه د لښکر لارې بندې او د آذوقې رسول وربانديې ودروي، خو د تیمورشاه لښکر په هر ځای کې چې له دښمن سره مخامخ شو، هغوی یې په کلکه ونکول. شاه مراد دومره کاواکه شو چې د مذهبي علماوو د یوې ډلې په لېږلو سره یې د جګړې د درولو هیله وکړه او د دواړو هېوادو تر منځ یې د پولو د ټاکلو ژمنه وکړه او د پخوا په شان یې د آمو سیند د بخارا او افغانستان تر منځ پوله ومنله. تیمور شاه دا ومنله او په دې توګه دواړه لښکر یو بل څخه جلا شول، تیمور شاه په ۱۷۹۳ م کال کې په پېښور کې رنځور شو او کابل ته راغی او په ۱۲۰۷ قمري (۱۷۹۳ م) کې ومړ. د یوه انګرېز په وینا چې د تیمور شاه مړینه به د زهرو له امله وه (۱) که چېرې دغه نظر ومنل شي، نو باید وویل شي چې دا هغه لومړنی سیاسي او پټ مرګ و چې د ابدالي دولت په موده کې پېښ شو، وروسته بیا د نورو سیاسي څېرو په برخه کې هم عملي شو. د بېلګې په توګه کله چې سید احمد بریلوي د افغانستان په ختیز کې له افغاني مجاهدینو سره یو ځای د انګرېزانو له دوستانو یعنې د پنجاب له سکهانو سره په جګړه و. مسموم کړل شو. خو مړ نشو. تو څو چې په جګړه کې ووژل شو او په وزیر اکبر خان باندې دوه څله ناوړه قصد وشو چې په دوهم ځل په زهرو سره ووژل شو او په افغانستان کې داسې پروپاګند پیل شو چې پلار یې امیر دوست محمد خان هغه ته د الماسو دوړه ورکړې وه. حال دا چې داسې نه وه. بلکې امیر دوست محمد خان د خپل مشر ورور (محمد افضل خان) شتوالي سره سره هغه خپل ولیعهد ټاکلی و او د وزیر محمد اکبر خان له مړینې وروسته یې د مشر ورور محمد اکبر خان له شتوالي سره سره سردار غلام حیدرخان د وزیر محمد اکبر خان عیني ورور د سلطنت ولیعهد په توګه وټاکه، خو کله چې امیر شیرعلیخان په مزار کې هغه مهال چې له روسیې سره د خبرو اترو په تمه و او د انګرېز په وړاندې د یوه پریکنده جګړې لپاره یې ځان چمتو کاو، یو ناڅاپه مړ شو او ټولو ویل چې په زهرو ووژل شو (البته دا ځل د هغه معالج ډاکټر یو روسی و). شیر پادشاه اسلام بوری (صاحب جان) هغه مهال چې افغانستان د یوه ارتجاعي جنګ په لمبو کې سوځېد، په ننګرهار کې د دغه اور د وژلو لپاره وروستۍ وسیله وه. نو ځکه شاه امان الله خان هغه د ارګ له بندیخانې څخه را خلاص کړ (هغه یې د خپلو دښمنانو په لمسون بندي کړی و) او جلال آباد ته یې واستاوه. همدا چې شیر باچا د شپې جلال آباد ته ورسېد په هغه سبا یې د هغه مړی په بستره کې وموندل شو او د اړ-دوړ اور غلی نه شو. تر څو چې اماني دولت له پښو وغورځېد. هیڅ له امکان څخه لرې نه ده چې دغه ډول وژنې به په هندوستان کې هم شوې وي. په استامبول کې سید جمال الدین افغان هم له دغه ډول وژنې څخه بې برخې پاتې نه شو. د تیمور شاه مړی د کابل په چهار باغ کې خاورو ته وسپارل شو او د قبر ودانۍ یې د هغه د زوی زمانشاه پر مهال جوړه شوه. د تیمور شاه د شل کلنې پاچاهۍ پر مهال د ملوک الطوایفي او غښتو فیوډالانو سره سره مرکزي دولت ځواکمن شو او هڅه وشوه چې د دولت واک د قبیلوي دود-دستور ځای ونیسي. له همدې امله تیمور شاه د غټو فیوډالانو له مخالفت سره مخامخ شو، خو هغه ټول

۱- د (افغانستان) کتاب په ۱۹۴۱ م کال کې په کابل کې د بریتانیا د مختار وزیر سرفریزالسلر تالیف د ۱۹۵۰ کال چاپ– لندن

Scanned by CamScanner

په زور سره په خپل ځای کېنول. تیمور شاه په خپل قلمرو کې مذهبي آزادي وساتله او په اداره او سیاست کې یې د متوسطې طبقې خلك پرته له کوم تبعیض، نژاد، ژبې او د مذهب له پام کې نیولو برخمن کړل. آن دا چې په خپل شاهي ګارد کې یې زیات شمېر قزلباش وټاکل او لوی افسران یې زیاتره د بیات د قوم وو. دغه دواړه قومونه هغه خلك وو چې له ایران او خراسان څخه د نادرشاه افشار او احمد شاه ابدالي په واسطه کندهار، کابل او غزني ته راوستل شوي وو. تیمور شاه په مساوي حقونو سره دوی په نظامي او ملکي چارو کې او په دولتي دفترونو کې په کار وګومارل. دوی هم د وخت له دولت سره په ښه توګه مرسته وکړه او د هېواد په برخلیك کې شریك شول. تیمور شاه په بهرني سیاست کې یو ډېر مدبر او احتیاط کوونکی سړی و. سره له دې چې نوموړي د سیند څخه پورې غاړه سیمې هم په واك درلودې. د هندوستان په نورو سیمو او په ماورالنهر کې یې تر دې زیات قدم نه کېښود. هغه زیاتره د افغانستان دننه چارو ته پاملرنه وکړه. په دې توګه د احمد شاه له پاچا کېدو څخه د تیمور شاه تر مړینې پورې نیمه پېړۍ وخت تر لاسه شو چې افغانستان وروسته تر اوږده ځوړ، تجزیې او د دوو پېړیو له وېش څخه وروسته یو ځل بیا د تدریجي پرمختیا په لوري ګام اوچت کړی او یو موټی شي. دغه د نیمې پېړۍ داخلي امنیت، سیاسي او اقتصادي مرکزیت په افغانستان کې د دې لامل شو چې کرنه د پردیو له لوټ او تالان څخه و ژغورل شي او لاسي صنایع (نساجي، څرمن جوړول، فلزکاري او نور) له ودانی جوړولو او ترکاڼي او د ګنډلو چاري ښه پرمختګ وکړی. د افغانستان ښارونه د سیده سوداګریزو راکړو ورکړو په پرمختګ سره یو بل سره وتړل شول. د سیمه یزو ستونزو سره سره ګمرکي عواید او مالیات ښه شول سره له دې چې ګمرکي بېلا بېل مالیات تمولېدل او د (خط رهداري) ستونزه هم وه، کورني بازارونه بډای شول. همدا مهال د زړو علومو مدرسي رامنځته شوې سره له دې چې دغه مدرسې ډېري کوچنی هم وې، شعر او ادب هم وغوړېد. عاجز، میر هوتك، راسخ، عیدي، وصفي، عبدالله (دیوان بیګي) او یو شمېر نور د همدغې دورې شاعران وو، خو بیا هم د هېواد بزګران هم د دولت او هم د فیوډالانو غبرګ فشار لاندې وو. سره له دې چې د تیمور شاه په دوره کې د ځمکو مالیات ډېر درانه نه وو، خو هغو اجاره لرونکو چې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې یې ځمکې په اجاره اخیستي وې له بزګرانو څخه د مالیې په اخیستلو کې د خلاص مټ لرونکي او په هغوی مالیات تحمیل کول، په تېره بیا هغه اجاره لرونکي چې یا به لوی فیوډالي او ځمکوال و یا به د دولت مامور و. دوی تولو له همدې لارې څخه زیاته شتمني تر لاسه کړې وه او بزګران تحمیل کولو ته اړ وو.

هغه فیوډال به چې د دولت په چوپړ کې و، یا به یې هم مستمري معاش درلود لکه لوی روحانیون او نور که دوی به ځمکې درلودې نو دوی څخه به مالیه نه اخیستل کېده، بلکې د دوی د ځمکو کلنی مالیات به د دوی په مستمري معاش کې حسابېدل هغه مامور به چې تیول او اقطاع نه درلودل، هغوی به د هېواد له مالي دفترونو څخه خپل کالنی معاش اخیست. د دربار معاش او لګښتونه هم پلازمېنې ته نژدې د مالیاتو د اجاره لرونکو په نوم حواله کېدل. د بېلګې په توګه عزیز الدین د دغه ډول حوالې اسناد

د تیمور شاه په نوم کتاب کې عکس برداري کړې دی.(۱) له دغو اسنادو څخه داسې ښکاري چې د دربار د چارچیانو کلنی معاش ۴۴ خرواره غله او په پلازمېنه کې د سرکاري غوجلو د اسپو کلنی خوراکه ۴۸ خرواره غله او ۷۲ خرواره بوس وو.

د تیمور شاه تر مړینې وروسته د هغه د ګڼ شمېر اولادونو او د دولت په چارو کې د هغوی لپاره د کار ورکولو او د ولیعهد د نه ټاکلو له امله افغانستان په یوه ګډوډ حالت کې پاتې شو. په تېره بیا په دې حالت کې بهرني استعماري عامل و کولای شول چې له وضعیت څخه ښه پوره استفاده وکړي او هېواد نور هم د ګډوډۍ سیند ته ورټېل وهي. کله چې تیمورشاه ومړ، د هغه مشر زوی همایون د کندهار د ولایت والي د هغه دوهم زوی محمود د هرات والي، د هغه یو بل زوی عباس د پېښور والي. شهزاده زمان د کابل حاکم او شجاع الملك د غزني او د زابلستان والي و. دوی هر یوه د هېواد تاج او تخت دعوا لرله، په تېره بیا هغو ورونو چې د عمر له پلوه له نورو څخه مشران وو. درباري اشرافو او لویو فیوډالانو هر یوه خپله شخصي ګټه لټوله او په خپل زړه یې د یو پاچا په کېناستو کې خپلې ګټې ته ګتل. په دې توګه د هېواد عمومي ګټې د یو شمېر ټاکلو وګړو د ګټو او غرضونو لوبه وګرځېده او د مرکزیت د له منځه تلو وېره راپیدا شوه. د کندهار والي د تیمور شاه مشر زوی همایون څان د سلطنت وارث باله. د پلازمېنې فیصلې ته یې کوم ارزښت ورنه کړ. محمود د تیمور دوهم زوی له پلازمېنې څخه لرې او په هرات کې و، څان یې هماالته ټینګ کړی و او د خپلو ورونو د حالت څارنه یې کوله او د خپلې دعوا لپاره د یوه فرصت په تمه و. د تیمور شاه دریم زوی فیروزالدین (د محمود مورنی سکه ورور و) پرته له دې چې کومه دعوا ولري د یوه سیل کوونکي په توګه د خیر په غونډۍ کېناست، د تیمور شاه څلورم زوی عباس (د پېښور والي) په بېړه کابل ته ورغی او د پاچاهي د تر لاسه کولو په لټه کې شو. د هغه سکه ورور کهندل په کشمیر کې و. د غزني والي شجاع الملك د کابل د والي (شهزاده زمان) سکه او کوچنی ورور خپل مشر ورور ته کتل. شهزاده زمان د عمر له پلوه د تیمور پېنځم زوی و خو د خپل لیاقت او کفایت له مخې یې مشر زوی و. هغه د پلار له خښولو وروسته د شاهي کورنۍ ټول شهزاده ګان د مشرانو او سپین ږیرو په یوه جرګه کې د ګډون او د نوي پاچا د غوره کولو لپاره را غونډ کړل. پرته له همایون او محمود څخه نور ټول شهزاده ګان دغې جرګې ته راغلل، پاتې اشرافو او فیوډالانو هر یوه د یو یو چالوری ونیو، شهزاده عباس خان سلطنت ته کاندید کړ او په جرګه کې یې د ېر پلویان راخپل کړل. شهزاده زمان چې وکتل چې جرګه مشر او کشر نه ګوري او همایون او محمود هم په شمار کې نه راولي، نو خپل څان یې د سلطنت وړ وباله. نوموړي دا مهال ۲۴ کلن و، یو شمېر د دربار مخور و چې له نږدې څخه هغه پېژاند او د هغه له لیاقت او شخصیت څخه خبر وو، د شهزاده زمان د دغې غوښتنې ملاتړ وکړ. شهزاده زمان د ېر ژر شهزاده عباس او د هغه پلویان چې په جرګه کې وو د کابل په بالاحصار کې بندیان او خپل سلطنت یې اعلان کړ، خو همایون او محمود ونه منله.

۱- د تیمور شاه کتاب، د کابل د ۱۳۳۳ شمسي کال چاپ، د عزیزالدین پوپلزایي تالیف

Scanned by CamScanner

## د زمان شاه د سلطنت پر مهال (۱۷۹۳ - ۱۸۰۱ م)

د زمانشاه د سلطنت لنډه دوره په نړۍ کې د سترو او ژورو سیاسي او ټولنیزو بدلونونو سره برابره وه هم د افغانستان ترڅنګ مهمې سیاسي پېښې رامنځته شوې او هم په نړۍ کې مهمې پېښې رامنځته شوې.
د بېلګې په توګه د هغه له پاچا کېدو څخه څلور کاله مخکې د فرانسې ستر انقلاب راغلی و او د اروپا زړه نړۍ یې ولړزوله. شپږ کاله وروسته د هغه له پاچا کېدو څخه د نامتو ناپیلیون په مشرتوب د فرانسې نوی دولت رامنځته شو او اروپا یې ولړزوله. د افغانستان ختیز ته د زمانشاه له پاچا کېدو سره سم سرجان شور د انګرېزانو په لاس د هندي نیول شویو سیمو ګورجنرال شو. دوه کاله وروسته د مرته دولت، د دکن نظام ونړاو او تر نیمایي پورې یې ونیو. درې کاله وروسته ورپسې د انګلیسي هندوستان نوی ګورنر (مارکي) ولسلي یو لوی لښکر جوړ او د ټول هندوستان د نیولو او د هندي دولت (مرته نظام او مسیور) د نیولو په نیت راپاڅېد. دکن نظام تسلیم شو. مرته دولت مات شو او د میسور پاچا سلطان ټیپو ووژل شو. راجپوت شهزاده د انګرېز دولت ته مطیع شول او د زمانشاه له پاچا کېدو څخه درې کاله وروسته (۱۸۰۴ م) د (هولکر) په مشرتوب د هندوستان د ملي مدافعې د ځواک وروستي قوت د انګرېزانو په وړاندې ماته وخوړه، دا په داسې حال کې چې له دې څخه یو کال مخکې (په ۱۸۰۳ م) د انګرېزي تجارو لښکرو د هندوستان پلازمېنه ډیلي او اګره نیولې وه. د انګرېزانو دولت هوډ کړی و چې خپل ښکېلاکګر واک پر ټول هندوستان خپور کړي. نو ځکه مارکوس لسلي د هندوستان د دولت د غصب کولو لپاره د (اعانې د اصولو) (۱) په نوم یوه نوې لاره خپله کړه او په دې توګه یې د هندوستان نیمه وچه تر تاړاک لاندې راوستله. د دغه سیستم پایله او د لسلي هوډ دا و چې لومړی دغه ټول هېوادونه د چل ول او بیا د تورې په زور ونیسي، وروسته بیا د خلکو د ټکولو لپاره یو لښکر چمتو کړي او د انګرېزانو واک ټینګ کړي او په غصب شوي هېواد باندې یو لاسپوڅی واکمن وټاکي. د دغه لښکر لګښتونه د خلکو تندي په خولو تر لاسه کړي او د هندوستان خلک په ټول عمر کې د انګرېزانو په لاس کې د خپلو کورنیو او بهرنیو چارو په سپارلو سره له دوی څخه منندوی هم وي، دا په دې نوم چې د دښمن لښکر د دوی د خاورې، ناموس، مال او ځان ساتندویان دي. نو افغانستان او زمانشاه د هندمیشته انګرېزانو د سیاست او ځواک تر ګواښ لاندې راغلل.
د افغانستان لوېدیځ ته (ایران کې) د زمانشاه له پاچا کېدو څخه دوه کاله وروسته (په ۱۷۹۵ م. کې) د قاجاریانو دولت ټینګ شو، د دغه دولت بنسټ ایښودونکی آقا محمد خان و چې یو تدبیر لرونکی او د لوړې ارادې لرونکی سړی و، خو دغه توند او ظالم سړي کرمانیان ړانده او تفلیسیان یې عام قتل کړل او د خپل هېواد دننه یې خپل سیالان (جعفر خان زند او لطف علي خان) وټکول. افغانستان ته یې هم نیت ښه نه و، آن دا چې یو ځل یې د خراسان پر ولایت یرغل وکړ او په وحشیانه زور او خورولو سره یې له خلکو د پیسو او مال په ټولولو پیل وکړ. ړوند شهرخ چې په مشهد کې د افغانستان له لوري څخه والي ټاکل شوی و د همدغه آقا محمد خان قاجار په لاس تېل داغ او وکړول شو تر څو چې خپل ژوند،

---

subsidiary of helping force :[1]

مال او تولهٔ شتمني یې له لاسه ورکړه. سره له دې چې آقا محمد خان د خراسان د ولایت له لوټ او تالان نه وروسته بېرته ایران ته ستون شو او ډېر ژر په ۱۷۹۷ کې هلته ووژل شو. خو د هغه ځای ناستی یې مړی (فتح علیشاه) ته پاتې شو چې د هغه د ۳۲ کلن سلطنت په دوره کې ایران د اروپایي ښکېلاک د سیاست او غرضونو لپاره یوه وسیله جوړه شوې وه او د ښکیلاکګرو د شطرنج په لوبه کې ایران لکه د بوې بېوې په شان د فرانسې، روسیې او انګرېزانو دیپلوماسي لپاره وکارول شو او راز راز خواوو ته بې ولویاو. فتح علیشاه چې تولهٔ ورځ له خپلو څو سوه ښځو او ماشومانو سره بوخت و، ددې وس نه درلود چې د ایران د خلکو نیکمرغي ډاډمنه کړي. هغه په لومړي ځل انګرېز او کپتان مالکم ته او بیا فرانسې او جنرال کارون ته او بیا بېرته انګرېز او سرهار فورد جونز ته تسلیم شو. دغه بې ارادې او ضعیف سړی چې پوره عیاش هم و نه یواځې دا چې په نړیوال سیاست کې ایران ختم کړ او د ګلستان او ترکمانچای او ګرجستان د تړونونو په لاسلیک کولو سره یې د ایران خاوره او د خزر په سمندر کې د بېړۍ چلولو حق له لاسه ورکړ او د بهرنیانو د کنسولي قضاوت په حق کې یې د کاپیتالایسون تفاوت ته غاړه کېښوده. له دې پرته به یې کله د انګرېز په لمسون او کله د روسانو په لمسون د افغانستان په چارو کې هم لاسوهنه کوله او زمونږ په هېواد کې به یې د کورنیو شخړو اورونه بلول. آن دا چې د خپل زوئ په وروستیو کې یې د روسیې په امر په هرات باندې یرغل وکړ، خو ناکام شو او بېرته ستون شو او په بل کال (۱۸۳۳ م) کې مړ شو. هغه څه چې نومونړي ددغو تولو چوپړونو په وړاندې له روسیې څخه تر لاسه کړل، ډېر لږ او شخصي وو. یعني روسیې دا ومنله چې عباس مرزا به د ایران د ولیعهد په توګه رسماً وپېژني. خو ځوان زمانشاه د یوې پخې ارادې لرونکی او کلک سړی و، د (افغانستان) نومی کتاب کې (فریر) د زمانشاه په هکله لیکي چې: (زمانشاه شخصاً یو ذکي، زړور او فعال او هوښیار سړی و او تل به پر آس سپور و چې د یوې جګړې له ګټلو به وروسته په بله جګړه واوښت (کورنیو او بهرنیو دسیسو او لمسون هغه ډېرو جګړو ته اړ کړی و) د افغانستان خلکو د تیمور شاه د نورو زامنو په پرتله زمانشاه ته درناوی کاو، د شاه شجاع په دربار کې د انګرېزانو سفیر الفنستین (۱۸۰۹ م) کې کله چې له پېښور څخه لاهور پنډۍ ته ولاړ او هلته د شاشجاع کورنۍ اوسېده، هلته یې له زمانشاه سره لیده کاته شوي و، د هغه په هکله لیکي: (یو مهال د زمانشاه نوم له هندوستان څخه تر ایران پورې خپور شوی و، نوما ډېر غوښتل چې هغه ووینم نو د جولای پر لسمه نېټه مې هغه تر یوې خېمې لاندې پر یوه کټ باندې ولید چې ور لاندې غالۍ هواره وه، زه د پاچا مخې ته ډېر ځنډ ودرېدم تر څو یې چې د کېښاستلو اجازه راکړه. د هغه جامې ډېر ساده وې یو تور څادر یې و او سپینه خولۍ چې په وربښمو ګنډل شوې وه. څېره یې پوره شاهانه وه او عمر یې د څلوېښتو شا وخوا کې و، څېره یې ډېره ښکلې او ښایسته وېره یې درلوده، ړوندوالی یې نه ښکارېد، لا یې هم د سترګو د کسو توروالی پاتې و او د خبرو پر مهال به یې سړي ته کتل. هغه له ما څخه د شاه شجاع د جګړې او ماتې په هکله وپوښتل او د افغانستان د پېښو په هکله یې خبرې پیل کړې او په پای کې یې هیله څرګنده کړه چې پېښې د دوی پر

لوري شي.)١

کله چې زمانشاه ته افغانستان وروسته تر نیمې پېړۍ امنیت څخه د یوه مرکزي دولت په لرلو سره لاس ته ورغی، هوډ یې درلود چې ددغه کورنۍ امنیت په ترڅ کې سیاسي مرکزیت نور هم ټینګ کړي او په بهر کې په هندوستان کې د انګرېزي ښکېلاك مخه ډب کړي.

په تېره بیا چې دا هغه مهال و چې په وروستیو پنځوسو کلونو کې د انګرېزانو ښکېلاګګرانه چلند د هندوستان ملت ، دولت ، راجه ګان او نوابان د غفلت له خوب څخه راویښ کړي وو او د اروپائیانو په وړاندې شکمن شوي وو. هغوی په عملي ډول ولیدل چې انګرېزان د هندوستان د ملت په ښکېلاك او ځبیښاك کې له هیڅ ډول زور، چل، دوکې او ظلم څخه مخ نه اړوي. له دې امله چې په خپله د هند فیوډالي قوتونه یو بل سره اخته او ګډوډو قوتونو د انګرېزانو د منظمو ځواکونو په وړاندې چې د نورو اروپائي ځواکونو په وړاندې بریالي راوتلي وو، ټینګار نشو کولای، نو ځکه یې سترګې د افغانستان لوري ته اووښتې وې. سرویلیام جان کې په دې برخه کې په خپله داسې لیکلي وو: (په هند کې د انګرېزانو ټولو دشمنانو، کابل ته سترګې اړولې...) په شمالي او دې او د هندوستان جنوبي میسور کې ځلور ځله د افغانستان له پاچا څخه هیله وشوه چې هندوستان ته راشي او د افغانستان له پاچا سره د هر ډول نظامي او مالي مرستې وعده وشوه. وزیر علي او سلطان ټیپو د افغانستان پاچا وهڅاوه چې له خپل لښکر سره هند ته ورشي د جوناګر راجا ژمنه وکړه چې د هغه سیمې ته د افغاني ځواکونو په رسېدلو سره به افغاني لښکر ته هره ورځ یو یو لك روپۍ ورکوي(٢) آن دا چې د رامپور نواب غلام محمد خان روهیله شخصاً په خپله د کابل دربار ته راغی او زمانشاه څخه یې د نظامي مرستې غوښتنه وکړه تر څو د خپل پلار له لاسه وتلې سیمې بېرته تر لاسه کړي. دا ځکه چې دده پلار فیض الله خان د محمد خان روهیله د زوی سعد الله خان زوی او ځای ناستی و او دغه علي محمد خان روهیله دکترا د ایالت (مراد آباد، بداون، بریلي او نورو) سیمو حاکم و چې د انګرېزانو کمپنۍ په یرغل او د اوده هبواد واکمن شجاع الدوله د ځواك د راتګ له امله یې په ١٧٧۴ م کې ماتې خوړلې وه او ټوله کترا سیمه نړول شوې وه. په همدې جګړو کې د روهیله نامتو وزیر حافظ رحمت خان شهید شو او فیض الله خان له انګرېزانو سره روغې او جوړې ته اړ شو. د روغې جوړې په پایله کې فیض الله خان پرته له رامپور او څو نورو کوچنیو سیمو څخه نورې ټولې سیمې او کترا ولایت له لاسه ورکړی و. اوس یې زوی غلام محمد خان یواځې د رامپور نواب و.

همدارنګه وروسته بیا د ناپلیون استازي د ایران له لارې کابل ته راغی او له زمانشاه سره یې په هغه باندې د یرغل کولو په هکله خبرې وکړې. ناپلیون ددغه یرغل طرح کول د روسیې له امپراتور لومړي سکندر سره یو ځای جوړه کړې وه چې د هغې له مخې به د فرانسې او روسیې او یا زره پوځ د پنځو میاشتو په ترڅ کې له تونه سیند څخه تر تور سمندرګي پورې او له استراخان څخه به تر استر آباد پورې

---

١- قاضي عطاء الله خان ١٩٨ ګومری توک

٢- د پښتو تاریخ، د پېښور چاپ ١٩۴٧ م، د مرحوم عطاالله خان شینواري تالیف.

Scanned by CamScanner

ورسېږي او له هغه ځایه به پر هندوستان باندې د یرغل په موخه د سند د سیند په لوري روانېږي. دا په داسې حال کې چې افغانستان په همدې لاره پروت و. نو ځکه فرانسه اړه وه چې د زمانشاه خوښه تر لاسه کړي. زمانشاه په خپله ۱۵۰ زره عسکر درلودل او لا مخکې یې هڅه وه چې هندوستان له انګریزانو څخه وژغوري، نو ځکه یې فرانسوي ځواکونو ته چندان پاملرنه ونه کړه. د خپل عمل آزادي یې د ساتلو له دې امله چې د عیسوي مذهبو له استعماري ځواکونو څخه د هندوستان د پاکولو په خاطر د افغانستان ملت ورسره ولاړ و. نو ځکه یې ځان له بهرنیانو سره په سازش کولو کې اړ ونه لید. خو ناپلیون چې پر هند باندې د افغانانو د یرغل په زور او ځواك ښه پوهېد نو په افغانستان باندې د یرغل کولو له خبرې څخه نه اوښت او په ۱۸۰۷ کې په (فینکن شتاین) کې د هغه او د ایران د استازیو تر منځ تړون لاسلیك شو، د دغه تړون په لسمه ماده کې ویل شوي و چې: (د ایران پاچا به هڅه وکړي چې افغانان او د کندهار خلك د هند پر نیول شویو سیمو باندې په یرغل کولو کې وهڅوي او ځان سره یې یو موټی کړي. زمانشاه په خپلو تصمیمونو کې چې له ځوې خوا یې غوښتل دننه په هېواد کې د دولت مرکزیت ټینګ کړي او له بلې خوا یې غوښتل په بهر کې هندوستان له انګرېزي ښکېلاك څخه وژغوري، له دوو بهرنیو او کورنیو مخالفو ځواکونو سره مخامخ و، یو یې ځواکمن فیوډالان او کورني سیالان وو چې ملوك الطوایفي یې غوښتله، په تېره د ابدالي قوم فیوډالانو ډېره هڅه کوله. له بل خوا انګرېزانو له دغې سیالۍ څخه ډېره ګټه اوچتوله. تر دې مهال پورې د یو شمېر پښتنو تر منځ فیوډالي مناسبات پر مخ تللي و چې سیمه ییزو اړیکو د خوني اړیکو ځای نیولی و او انګرېزانو له هغو څخه بده ګټه اخیستله. بل دوهم مخالف قدرت په هند کې د انګرېزانو ښکېلاکګره اداره وه چې په بشپړ ډول باندې په هندوستان کې د خپل برخلیك په هکله د افغانستان په قوت او اغېزه باندې پوهېدل. په دې توګه د هغوی د ډیپلوماسي ماشین په یو مخیز ډول د زمانشاه او افغانستان په ضد په ډېر قوت سره په کار پیل وکړ، دا ځکه چې په نظامي ډګر کې او هغه هم د وچې په جګړه کې انګرېزانو ځان د هغو افغاني ځواکونو په وړاندې ضعیف احساساوه چې لکه د یو سیلاو په شان د غرونو له لوړو څخه د هندوستان هوارو او پستو سیمو خوا ته ور روان و، په هر حال، د افغانستان دننه د فیوډالانو فعالیت او له افغانستان څخه بهر د انګرېزانو سیاسي فعالیت زمانشاه په یوه ګواښونکې کړۍ کې را ایسار کړی و. زمانشاه د خپلې پاچاهي په لومړي کال باندې کله چې غلزیو په کلات کې د همایون مخالفانه سوقیات (هغه د جنرال میر علي خان اسحق زایي له تسلیم کېدو څخه وروسته) مات کړل، او همایون یې بلوچستان ته په تېښتې باندې اړ کړ، له کابل څخه د سند د غاړې خواته روان شو او د ۱۷۹۳ کال د دسمبر په میاشت کې پېښور ته ورسېد، خو لا له سند څخه نه و پورې وتلی چې خبر شو، چې همایون د سند د خانانو (تالپوریانو) په مرسته پر کندهار یرغل کړی دی او د جګړې په ډګر یې شخصاً قیصر د زمانشاه زوی په توره ټپي کړی دی، له بلې خوا خبر شو چې شاه مراد د بخارا امیر په بلخ باندې یرغل کړی دی او هغه یې نیولی، نور فیوډالان هم له مرکز څخه تښتېدلي وو او په ولایاتو کې د اړ دوړ لپاره په هڅو لګیاوو. سره له دې چې په همدا سي یو مهال کې د سند میرانو، د پنجاب سکهانو او د کشمیر

Scanned by CamScanner

والي هم پاخونونه کړي وو او په بلوچستان کې هم تجربه لرونکي او سپین ږیري نصیر خان مړ شوی او د هغه غرض لرونکو ورونو د شهزاد همایون ملاتړ پیل کړی و. سره له دې چې محمود خان د خپل پلار نصیر خان پر ځای ناست و. خو زمانشاه د هېواد د کورنیو چارو سمبالول د هېواد د شاوخوا حالاتو د سمبالولو په پرتله ضروري وبلل. نو ځکه په بېړه له پېښور څخه راستون او مخ په کندهار ورغی.

د همایون پېشدار احمد خان نورزايي زمانشاه ته تسلیم شو. نو ځکه نور همایون د مقابلې وس نه درلود او سند ته وتښتېد. کله چې پوه شو چې زمانشاه به هلته هم ورپسې ورشي، له سند څخه هرات ته ولاړ ترڅو هلته د یاغي شوي شهزاده محمود له ځواکونو سره یو ځای شي. خو د تګ پر مهال په لاره کې د لهیه په شګلنو دښتو کې د محمد خان بلوچ په لاس ونیول شو او د زمانشاه په حکم د کابل په بالاحصار کې بندي او ړوند کړل شو. دا مهال د بخارا پوځ هم بلخ پرېښود او له جیحون څخه پورې وتل او په شا ولاړل. زمانشاه په بېړه له کندهار څخه د بولان په دره باندې مخ په سند ورغی په بلوچستان کې د شیر محمد خان مختارالدوله تر مشرۍ لاندې یوې مفرزې د نصیر خان شورشي ورونه وټکول او د هغو پر ځای یې د نصیر خان زوی محمود په ایالتي حکومت حاکم کړ (شیر محمد خان تیمور شاه له دندې لرې کړی و). کله چې له کندهار څخه همایون وروسته تر یرغل کولو تېښته کوله د زمانشاه له رارسېدو څخه مخکې د پاینده خان زوم مرتضي بارکزای د اړ-دوړ جوړولو په موخه د کندهار بازارونه ولوټل. کله چې د پاینده خان مېرمن هغه وراټه او بندي یې کړ، د لومړي ځل لپاره یو مشکوک سړی د روحانیت تر نقاب لاندې د میان عبدالستار شاه په نوم را پیدا شو او د مرتضي ملاتړ یې وکړ، هغه یې له بندي کېدو څخه وژغوره. وروسته وروسته بیا دغه ډول شکمن هندوستانیان افغانستان کې زیات شول چې انګرېزانو رالېږلي وو او ټولو د مذهب او روحانیت څېره پر مخ غوړولې وه او په څرګند ډول یې د هېواد په سیاسي چارو کې لاسوهنه کوله او حالات یې خرابول. زمانشاه چې په ۱۷۹۴ م کال کې د سند د غاړو او د پنجاب د بیا سمبالولو لپاره د سند حوزې ته تللی و، لا یې د چارو سمبالښت ته ملا په کلکه نه وه تړلې خبر شو چې په هرات کې دا ځل د همایون پر ځای شهزاده محمود د دولت په وړاندې مخالفت پیل کړی دی او د کندهار یو لوی فیوډال (عطا محمد خان علیزایي) د خپل قوم له پنځه زره کورنیو سره د محمود د ملاتړ لپاره هرات ته ورغلی دی. زمانشاه د دې خبرې په اورېدو سره د سند له مخالف والي امیر فتح علي تالپوري سره کارونه په روغې جوړې سمبال کړل. میر فتح علي دا ومنله چې د سند کلني مالیات به (۳۰۰ زره روپۍ) د دولت خزانې ته سپاري. زمانشاه هم سمدستي هغه د سند ایالتي حکومت د حاکم په توګه په خپل ځای پرېښود او په خپله کندهار ته راغی. محمود له خپلو سرتېرو سره له کندهار څخه د هرات په لوري راخوځېدو. شاه زمان هغه سره د ګرشك او زمینداور تر منځ مخامخ او د پنځلسو ساعتونو ډېرې کلکې جګړې څخه وروسته یې ماتې ورکړه او ټول پوځ یې ورته تباه کړ، په خپله محمود یوازې له سلو تنو سپرو سره ژوندی پاتې شو او د فراه خواته وتښتېد. شاه زمان دښمن ته فرصت ورنه کړ او ورپسې ورغی محمود په شا ولاړ او ځان یې کلا بند کړ. شاه زمان

Scanned by CamScanner

د هرات ګڼك ښار کلابند کړ. دا مهال محمود یو چل وکړ. خپله مور یې له توبه لیك سره شاه زمان ته راواستاوله او خپل تابعیت یې وښود او دا ژمنه یې هم وکړه چې خپله لور به د زمانشاه زوی ته د نکاح کولو په موخه ولېږي. د زمانشاه عاطفي د هېواد سیاسي ګټې تر سیوري لاندې راوستلې محمود یې ویاښه او بېرته یې د هرات والي کړ. دا د زمان شاه زمان لومړنی ډېره لویه تېروتنه وه چې د افغانستان دولت یې ګواښ سره مخامخ کړ.

کله چې زمانشاه بېرته کابل ته راورسېد. د بخارا سفیر ورته راغی او په بلخ باندې یې له مخکې تېرې ذده بخښنه وغوښته او دا هیله یې ورڅخه وکړه چې هماغه پخوانی قرارداد بېرته نوی شي او د دواړو هېوادونو تر منځ آمو سیند د پولې په توګه وپېژندل شي زمانشاه په ۱۷۹۵ م کال کې وروسته تر هغه چې د دوو کلونو په ترځ کې یې ټول افغانستان د پنجاب، ملتان، سند او کشمیر په ګډون سمبال او واکمن کړل، نو هندوستان ته ورتګ لپاره یې د سفر برې امر وکړ. د زمانشاه نظامي اردو د قبایلو له سرتېرو څخه جوړ و چې شمېر یې سل زرو تنو ته رسېدل او زیاتره سپاره لښکریان وو. دغه اردو د شمېر د زیاتوالي او د قشلې د کمښت له امله په یوه ښار کې نه ځایېد. نو ځکه په بېلا بېلو سیمو کې اوسېدل او د جګړې د احضاراتو پر مهال به یوه ځای ته راټولېدل. که اوړی به و نو په یوه پرانیستې سیمه کې به په خېمو کې اوسېدل او که ژمی به و نو د ښارونو د اوسېدونکو په کورونو او د کلیوالي خلکو په بېت ځایونو کې په ووېشل شول، خو دا کار د خلکو د آزار او خورېدلو لامل کېده نو کابل ښار چې زیاتره وخت به د اردو د راټولېدو ځای و. نو خلکو به د خپلو کورونو مخه او د انګړ او دالان مخه لړ څه کړه او ژوره جوړوله چې آسونه انګړ ته ورنشي او سپاره سرتېري په دغه ډول کورونو کې له اوسېدلو څخه ډډه وکړي. ددغه ډول کورونو بېلګې اوس هم د کابل په زاړه ښار کې شته. خو په کلیو کې خلکو دغه ډول موانع او ستونزې نشوې جوړولای دا ځکه چې دوی په خپله آسونه، خره او غواوې درلودې. د زمانشاه تر امر لاندې لښکر او سرتیري په مرکز کې د شمېر له مخې ۲۴ زره تنه سپاره او شپږ زره تنه پلي وو. له دې جملې څخه ۱۲ زره د ګارد شاهي سپرو سرتېرو هره میاشت ۱۳ زره نقدي روپۍ معاش د دولت له خزانې څخه اخیست، پاتې نورو سرتېرو خپل کلنی معاشق نیم نغد او نیم د غلې په بڼه د هېواد د مالیاتو پر ځای حواله او اخیست. د اردو د پلیو معاش د سپرو په نیمایي و. د اردو لویو افسرانو د خپل معاش پر ځای یو شمېر سیمې د جاګیر په توګه له دولت څخه اخیستې وې.

زمانشاه لکه څرنګه چې وویل شول په ۱۷۹۵ کې له ۳۰ زره سپاهیانو سره له سند څخه پورې وت او د حسن ابدال په سیمه کې تم شو. سرتېرو چې په منډه د (رهتاس) کلا ونیوله او لمسول شوي سکهان یې وڅکول سکهان لکه د غرځو په شان غرو ته وختل او وتښتېدل او د پنجاب ټولو مسلمانانو د زمانشاه ملاتړ وکړ. په داسې مهال کې چې په هند کې د انګرېزانو او کمپنۍ په لړزه کې لوېدلې وه، زمانشاه ته خبر راورسېد چې د ایران پاچا آقا محمد خان د ثامن الائمه د زیارت په نامه د خراسان ولایت ته راغلی، د خراسان افغاني والي شهرخ یې بندي کړی او د مشهد ښار یې لوټ کړی دی. یواځې د شهرخ دوو زامنو هریو، نادر او عباس ځانونه هرات ته رارسولي وو. زمانشاه چې له سند څخه هم پورې وتی و،

Scanned by CamScanner

بېرته افغانستان ته راستون شو او د ۱۷۹۲ په جنوري کې پېښور ته راورسېد. له پېښور څخه لاندې روان چې خبر راورسېد چې آقا محمد خان خراسان پرېښی او بېرته ایران ته تښتېدلی دی. سره له دې چې په دغه پېښه کې آقا محمد خان بندي کړل شوی ړوند شهرخ کړ ولي او په غوړيو کې سوځولی وا و د هغه ټوله شتمني يې لوټ کړې وه او د هغه زامن هم هره خوا تښتېدلي وو، خو بيا هم زمانشاه د هند موضوع د ايران په پرتله مهمه وګڼله او له پېښور څخه بېرته مخ په لاهور روان شو او په ۱۷۹۷ م کې پرته له دې چې له کوم جنګ او خنډ سره مخامخ شي سيده په لاهور ورننوت. دا په داسي حال کې چې د هغه پېشدار مختارالدوله شیر محمد خان له خپلو شل زره سرتېرو سره لا پخوا سکهان مات کړي وو او لاره يې پاکه کړې وه. په دې توګه يو ځل د هندوستان د پاچا شاه عالم (عالي ګوهر) ليک زمانشاه ته راورسېد چې په ليک کې يې زمانشاه ته بلنه ورکړې وه چې د هندوستان پلازمېنې ته ورشي. زمانشاه په ليکلې بڼه د انګرېزانو هندي کمپنۍ ته يوه ليک کې خبر ورکړ چې غواړي هند ته ننوځي او مرته خواکونه جنوبي سيمو ته وخغلوي. دې پسې له افغانستان څخه بل بد خبر راورسېد چې محمود بيا په هرات کې بغاوت پيل کړی دی، نو ځکه زمانشاه له لاهور څخه کندهار ته ستون شو، هندوستان هك حيران شو. له کندهار څخه مخ په هرات ورغی (۱۷۹۷ سپټمبر) او محمود ته يې ماتې ورکړه. دا ځل محمود له خپل زوی کامران سره د ايران دولت ته چې دا مهال يې د استعماري فساد د يوې ځالې بڼه غوره کړې وه، وتښتېد. دا وخت آقا محمد خان قاجار ووژل شو او فتح علي شاه پاچا شو. فتح علي شاه په تهران کې د خپل صدراعظم اعتمادالدوله په واسطه د محمود او د هغه د ورور فيروزالدين او د زوی کامران هرکلی وکړ او د لنډ وخت لپاره محمود کاشان کې مېشت شو. زمانشاه د هرات حکومت خپل کوچنی زوی قيصر ته او د هغه نيابت يې زمان خان ته ورکړ او د شهرخ زوی نادر مرزا يې له شير محمد خان مختارالدوله سره د خراسان ولايت ته واستول، تر څو مختارالدوله هغه د زمانشاه له لوري او د زمانشاه په استازيتوب د خراسان په حکومت وګوماري. زمانشاه بېرته له هرات څخه کابل ته راغی او د هندوستان په لوري لانه و روان شوی چې محمود د ايراني لس زره مرستندويه پوځ سره د يزد او فراه له لارې پر هرات يرغل وکړ، خو د هرات د ساتونکو، (والي قيصر او د هغه نائب زمان خان) له خوا وټکول شو او بخارا ته په تېښته اړ شو. ورور او زوی يې بيا ايران ته ولاړل. دا ځل په خپله زمانشاه له کابل څخه هرات ته ورغی او د خپل استازي (ملا عبدالحق) په لېږلو سره يې په ليکلې بڼه د بخارا له امير شاه مراد څخه غوښتنه وکړه چې محمود يا له بخارا څخه وباسي او يا يې ده ته تسليم کړي. د بخارا حکومت ومنله او محمود د خوارزم له لارې ايران ته ولاړ. فتح علي د هغه تود هرکلی وکړ او د صدراعظم محمد شفيع په کور کې يې ورته ځای ورکړ. چاره نه وه زمانشاه بېرته کابل ته راستون شو او د هندوستان په نيت روان نشو. کله چې پېښور ته ورسېد، د کشمېر د حالاتو د سمبالښت لپاره يې يو ټولی عسکر ولېږل او عبدالله الکوزی يې د کشمېر د ناوړه اداري له امله له دندې څخه لرې، ځان ته يې راوغوښت او بندي يې کړ. کله چې د کندهار الکوزايي خانان له دې پېښې څخه خبر شول، نو د تښتېدلي محمود په پلويتوب راپاڅېدل.

Scanned by CamScanner

زمانشاه د ۱۷۹۸ په اکتوبر کې له پېښور څخه لاهور ته ولاړ. دا خل آن سکهانو اطاعت وکړ. زمانشاه ددې لپاره چې هندوستان ته د ننوتلو پر مهال د شا له لوري ډاډه اوسي. رنجیت سنګهه چې د کار سړی و، هغه یې را اوچت کړ او د لاهور او پنجاب حکومت یې ورکړ. خو دا مهال د سکهانو تیت او پاشانو ځواکونو یو ځل بیا مرکزیت پیدا کړ او دانګرېزانو د کمپنۍ پام یې ځانته راواړاو او خبره دې برید ته ورسېده چې پنجاب په یوه افغاني ضد مرکز بدل او لمسونونو قوت پیدا کړ. انګرېزانو رنجیت سنګهه ته (پنجاب زمری) نوم ورکړ. دا مهال (۱۷۹۹) په هندوستان کې د انګرېزانو وېره د زمانشاه له لوري ډېره زیاته شوې وه او د هغه له یرغل څخه په تشویش کې وو. د کمپنۍ یوه استازي (مرزا مهدي علي خان) د ایران په دربار کې لاس او پښې غورځول تر څو د ایران دولت د زمانشاه د دولت د نړولو لپاره وکاروي او زمانشاه ته یو سرخوږی پیدا کړي او افغانان تر دوه- درې کلونو پورې په خپل منځ کې داسې بوخت وساتي چې پر هند باندې د یرغل فرصت پیدا نه کړي او په دغه موده کې انګرېزان وکولای شي په هند کې خپله پښه ښه پوره ټینګه کړي او د مقابلې لپاره ځانونه چمتو کړي. په دې توګه د ۱۷۹۸ په وروستیو کې هغه مهال چې زمانشاه په لاهور کې و او له ستلج سیند څخه د پورې وتلو لپاره چمتو کېده، بیا له افغانستان څخه خبر ور ورسېد چې فتح علي قاجار له محمود سره لاس یو کړی او پر افغانستان د یرغل لپاره د خراسان ولایت ته ننوتلي دي.

زمانشاه د افغانستان د ساتلو لپاره او له خراسان څخه د محمود او قاجاریانو د شړلو لپاره پرته له ځنډه څخه هندوستان پرېښود او د ۱۷۹۹ م کال په پیل کې له لاهور څخه پېښور ته راغی. دا په داسې حال کې چې لا قاجاریانو له نظامي پلوه پر افغانستان د یرغل کولو ځواک نه درلود، دا ځکه چې د قاجاریانو اردو کې ایله جاري سرتېري وو او د سیمه ییزو خانانو تر امر لاندې یې په بېلا بېلو وسلو او جامو سره دله تر سره کوله او په سارایي جګړو کې چندان کلك نه وو. د هغوی پلي ځواك په یوه ناولي نظم سره جنګېدل او شاته نور صفونه یې بې وسلې او یا هم یواځې د تبرزین او نېزې لرونکي وو، خو د دوی سپاره پوځونه لږ څه ښه وو، خو تر زیاته بریده پورې یې موخه لوټ او تالان کول و. ددې ډول اردو پرمختګ یواځې او یواځې د ځواکمنو افسرانو، توپچي او توپك لرونکو پلیو عسکرو په درلودلو ډېره لګولای شوه او بس. خو دغه درې واړه ډېر لږ او ناکافي وو، خو د دوی په وړاندې افغاني اردو ډېر منظم و، د ایران وسلې زیاتره درانه (شاخدار) ټوپك او کوچني توپونه (زنبورك) وو چې تر ۲۰۰ ګامونو پورې یې ۱۵۰ ګرامه ګولۍ ویشتلای شوې، د دوی په وړاندې د زمانشاه اردو د وسلې، روحیې او نظم له پلوه ډېر اوچتوالی درلود. د هغه مهال په ایران کې هغه وخت یوه توره په شپږو نیمو روپیو جوړېدای شوه او یوه روسي ټوپك د پرش روپۍ بیه درلوده.

په هر حال، د فتح علي شاه دغه پرمختګ د انګرېزانو په لمسون یواځې یو سیاسي مانور و، د بېلګې په توګه فتح علي شاه یواځې او یواځې تر نیشاپور او سبزوار پورې راغی او د افغاني ساتونکو د مقابلې او د زمانشاه د لیکلي اخطار له امله بېرته شاته وتښتېدل او له دغې ننداري او مانورې څخه یې هیڅ هم ترلاسه نه کړل، خود همدغې ننداري ګټه انګرېزانو ته ورسېده او د هغوی یوه هیله پوره شوه یعني

Scanned by CamScanner

مخکې تر دې چې د هندوستان برسات پیل شي او مخکې تر دې چې د هندوستان سیندونه ډپاند شي او د زمانشاه د یرغل مخه ونیسي، زمانشاه اړ شو چې په خپله راستون شي او انګریز ته د ساکښلو موقع په لاس ورغله. خو د انګریزانو پټ پټ لاس وهل د افغانستان دننه او د افغانستان شاوخوا لا دم روان وو. د افغانستان دننه یو مسلمان هندوستانی (میا غلام محمد) له څه مودې راهیسې د زهد او تقوې په جامه کې په کندهار کې ځای پر ځای شوی و او ورو ورو یې لوی لوی فیوډالان او د زمانشاه غټ غټ درباریان خانته ورېلل او هغوی یې د زمانشاه په وړاندې یوې پټې خاینانه دسیسې کې سره راشریک کړل. د دغه دروغجن روحاني بریالیتوب د افغانستان د خلکو د یوې روحي ځانګړتیا پر بنسټ ولاړ و. هغه دا چې دغه خلک تر زیاته بریده د عاطفي تر درانه بار لاندې راتلای شي او په (اسلامي اخوت) ډېره ډېره لګوي. خو دښمنانو یې تل د دوی له دغې عاطفي څخه ناوړه ګټه اوچته کړې ده. ددغې ډلې موخه داوه چې یا زمانشاه ووژني یا لږ تر لږ هغه له واک څخه وغورځوي او د هغه صادق وزیر (رحمت الله وفادار خان) ووژني او د افغانستان تاج او تخت یوه لاسپوڅي شهزاده (محمود) ته وسپاري ددغې دسیسې او توطئه کوونکو د ډلې مهم غړي لاندني ۱۳ تنه وو

میا غلام محمد هندي، پاینده خان بارکزایي، محمد عظیم خان الکوزایي، محمد رحیم خان علیزایي، نور الله خان بابري، اسلام خان پوپلزایي، حکمت خان سرکاني، سلطان خان نورزایي، خضر خان علیزایي، زمان خان پوپلزی، رکاب باشي، امیر اصلاتخان، جوان شیر، جعفر خان جوان شیر او منشي محمد شریف خان قزلباش

د افغانستان په ګاونډ کې کپتان ملکم [1] د هندي انګریزانو استازي د ایران قاجاري حریص او غافل دربار د زمانشاه په ضد د خپلو سیاسي غرضونو لپاره یوه وسیله وګرځوله. فتح علي په حرص سره پیسې ومنلې چې هر کله چې زمانشاه له کابل څخه د هندوستان خواته روان شي، نو هغه به له ایران څخه یو لښکر د خراسان او هرات په لوري ولېږي او محمود به د زمانشاه په وړاندې وسله وال او وهڅوي. د ایران دربار د انګریزانو د سرو او سپینو زرو د ډالیو او پیسو په وړاندې په هغه قرارداد باندې لاسلیک وکړ چې د هغه د موادو له مخې به: هر کله چې د افغانستان پاچا پر هندوستان د یرغل لپاره روانېږي، نو د ایران پاچا به له خپل ټول خواک سره پر افغانستان یرغل کوي او په هغه ژمنه به هیڅکله لاسلیک نه کوي چې د هغې له مخې د افغانستان پاچا په دې ژمن شي چې په راتلونکي کې به دانګریزانو په وړاندې هیڅ اقدام نه کوي. همدارنګه فتح علي شاه انګریزانو سره ژمنه وکړه چې که د افغانستان او انګریزانو تر منځ کومه جګړه راځي، نو د ایران دولت به د انګریزانو مرستې ته یو لښکر ولېږي، په دې شرط چې د ایراني لښکر لګښتونه به د انګریزانو په غاړه وي. په همدغه قرارداد کې فتح علي دا ژمنه هم وکړه چې فرانسویان د دوی دښمنان دي او د هغوی په ضد به اقدام کوي او پرې به نه ږدي چې فرانسه د پارس په خلیج او د ایران په نورو برخو کې ځای ومومي. یوه ایراني سیاستوال (پرنس ملکم خان ارمني) د قاجاري حکومت ددغې لوبې په هکله داسې ولیکل: که ایران له دغه سیاسي چالونو

---

[1] Makolm :

څخه خبر وای نو په افغانستان کې به دغه خواشینونکې پېښې نه راتلای کوم چې افغانستان یې په وینو کې ډوب کړ او د انګرېزانو د موخو په تر لاسه کولو کې به یې دومره بېړه نه کوله
وروسته بیا انګرېز کپتان ملکم ددغې لوبې سیاسي لوبې او بریا په هکله چې په ډېره آساني سره فقط په ایران کې د پیسو د خپرولو له لارې ور په برخه شوه او د زمانشاه په شان د یوه لوی دښمن له لاس څخه ټول ختیځ او لوی هندوستان کې د انګرېزانو استعماري واک تر لاسه شو او په رښتیا هم چې زمانشاه د انګرېزانو لپاره د ناپلئون په پرتله ډېر پیاوړي او هند ته نژدې خواک و. خو انګرېزانو ور څخه د همدغې لوبې په واسطه خلاصون وموند. داسې ولیکل: «ډاډه اوسئ چې د برسات له پیل څخه به مخکې زمانشاه هندوستان کې هیڅ ګام اوچت نشي کړای سره له دې چې هغه په هندوستان باندې د یرغل بشپړه ځواک هم لري. خو ددغه یرغل لپاره به فرصت ونه مومي او د خدای په مرسته به زمانشاه ځوکاله نور هم داسې بوخت پاتې شي چې بل هیڅ شي ته به د فکر کولو وخت ونه مومي[1]» «دلته انګرېز کپتان مالکم د خدای (ج) نوم داسې یاد کړی لکه یو د کلکې عقیدې عیسوي چې وي.»
انګرېزي کمپنۍ ته له ایران څخه د مالکم لیک، د انګرېزانو هغه ډېره چې له افغاني دولت څخه ورته پیدا شوې وه کمه کړه او دغه لیک د انګرېزانو هغه تخریبي پټ فعالیت څرګندوي چې دوی د افغانستان په ضد ترسره کاو، د بېلګې په توګه دغه کپتان په ۱۷۹۹ کې د زمانشاه په لاس د کندهار قومونو د توطئه کوونکو مشرانو وژل کېدل په خپل یو لیک کې چې له ایران څخه یې لېږلی ډېر د خوښي وړ بللی او هیله یې څرګنده کړې وه چې دا دی اوس په افغانستان کې کورنی اړ-دوړ پیل او زمانشاه نور په هندوستان باندې د یرغل کولو فرصت نه لري. وروسته بیا ورپسې په خراسان باندې د ایران د یرغل او په افغانستان کې د پاڅون د پیل کېدو له امله ډېره خوشحالي څرګندوي. په یوه بل لیک کې لیکي: «د انګرېزانو د ګټو په خاطر باید د خراسان ولایت خپلواک شي. او که اړ شي چې یا د ایران یا د افغانستان تر اثر لاندې به وي، نو بیا غوره ده چې د افغانستان پر ځای د ایران تر تاثیر لاندې راوستل شي دا ځکه چې د ایران د پاچا ځواک د افغانستان د پاچا د ځواک په پرتله لږ دی» یوه بل لیک کې یې لیکلي و: «زمانشاه په هندوستان کې د انګرېزانو د قوت یو ډېر خواکمن دښمن دی. همدې به وي چې پرته د بهرنیانو له مرستې څخه به په خپل زور هند ته راشي.» همدارنګه بل ځای یې لیکلي و: «هیڅ شي به د زمانشاه مخه د هېوادونو په نیولو کې ونه نیسي (له هند څخه د انګرېزانو شړل) مګر دا چې د هغه په هېواد کې نفاق واچول شي او هغه د هېوادونو له نیولو (د انګرېزانو له شړلو) څخه پاتې کړي.»
بل ځای یې لیکلي دي: «په افغانستان کې د بل هر آسیایي هېواد په پرتله غرور، کینه او نخوت زیات دی» کپتان په ۱۸۰۱ کې (د زمانشاه د پاچاهي په وروستي کال) لیکلي و: «له جاري وضعیت څخه داسې ښکاري چې سږ کال (۱۸۰۱) او آن بل کال ته به د افغانستان له لوري انګرېزانو ته کوم ګواښ پېښ نه شي، دا ځکه چې محمود له خراسان څخه روان شوی او یقیني ده چې کندهار او د هغه شاوخوا به ونیسي. مرور مشران له هغه سره یو ځای شوي دي او د راتلونکي کال د جګړو لپاره د ځواکونو په

[1]- د قاضي عطاالله کتاب، د زمانشاه خبرکی

راپولولو بوخت دي. زمانشاه په ژمي کې په کندهار باندي یرغل نشي کولای، دا ځکه چې د ژمي په مهال لارې بندې وي. تر هغه وخته پورې د ایران پاچا ژمنه کړې ده چې په خراسان به یرغل کوي، نو په دې توګه به زمانشاه دومره بوخت پاتې شي چې پر هندوستان باندې به د یرغل کولو فرصت پیدا نه کړي. که چېرې (؟!) د زمانشاه پوځ هغه ته خدمت وکړي نو محمود ته به ماتې ورکړي. د درانیو د مشرانو تر منځ اختلاف ډېر یو ښه فرصت په لاس راکړی چې ایران د خراسان ولایت ونیسي....)

سر ویلیام جان کې هم د کپتان ملکم د دغو بریاوو په هکله او هغه هم په ایران کې د پیسو لګولو له لارې، داسي لیکلي و: (هره ستونزه د انګرېزانو د سرو زرو په وړاندې له منځه ځي) البته د انګرېزي پانګې تجربه نه یوازې په ایران کې. بلکې په خپله په انګلستان کې هم یو متل جوړ کړی چې وایي (انسان هغه خنزیر دی چې سره زر خوري) او دا د اروپا او انګرېزانو د صراف او سوداګري طبقې د فکر کولو یوه ډېره ښه بېلګه ده چې د یوه متل په بڼه راغلې ده. دا ځکه چې لوېدیزه پانګوالي چې د لښکر په زور یې د ختیځ نیول په پام کې نیولي و، پرته له پیسو بل معبود (خداي) نه پېژاند. انساني کرامت د هغوی لپاره هسې یو پوچ او موهوم شی و. نو د دوی په فکر انسان یو داسي خنزیر دی چې سره زر خوري.

کله چې زمانشاه په ۱۷۹۹ کې هندوستان ته له ورننوتلو پرته له پېښور څخه بېرته راستون شو او بیا پر خراسان باندې د فتح علي شاه او محمود د تیري د مخنیوي لپاره کندهار او هرات ته ولاړ. تر دې مهال پورې فتح علي شاه او محمود پرته له دې چې کوم مهم کار یې کړی وي. د افغاني حاکمانو د دفاع او د زمانشاه د سیاست له امله بېرته په شا شول. مخکې تر دې چې فتح علي شاه مخ په خراسان باندې په دغه سفر بری باندې پیل وکړي. د هغه وزیر حاجي ابراهیم خان د زمانشاه وزیر رحمت الله خان ته یو لیک رالېږلی و او په هغه کې یې لیکلي و: (ډېره به غوره وي چې د دواړو خواوو تر منځ د جګړې مخه ونیول شي، دا ځکه چې د ایران پاچا نه غواړي چې شهزاده محمود د افغانستان پاچا شي. بلکې د افغانستان د پاچا له مشر ورور محمود څخه همدومره ملاتړ کوي چې هرات او د هغه شاوخوا ورته ورکړل شي. رحمت الله خان د دغه لیک په ځواب کې ورته لیکلي و: د هرات پېښه د ایران د پاچا لپاره د جګړې د پیل کولو په خاطر یوه بهانه ده، دا ځکه چې بې دینه انګرېزانو هغه جګړې ته لمسولی دی. که چېرې ایران په دې وروستیو دوو کلونو کې پر هندوستان باندې د افغانستان د یرغل مخه نه وای نیولې، اوس به د انګرېزانو نیمه شتمني او نیمي سیمې نیول شوې وای، خو ایران د کفارو د خوښې د تر لاسه کولو لپاره مومنان یو پر بل وژني. د ایران وزیر بېرته په ځواب کې ولیکل: فرض کړئ چې د ایران د پاچا اقدام که له انګرېزانو سره د دوستي له مخې وي، په سیاسي چارو کې مذهب ته ډېر لږ کتل کېږي.

د افغانستان وزیر چې دا حال ولید، نو ډېر ژر یې خپل یو لایق استازي له یو څه سوغاتونو او نازکو شالونو سره د ایران وزیر ته واستاوه او ویې ویل: که چېرې د ایران پاچا د شهزاده محمود له ملاتړ څخه لاس واخلي، او د افغانستان پر سیمو باندې یرغل ونه کړي، نو د افغانستان پاچا به وکولای شي چې په هندوستان کې خپله نقشه پر مخ بوځي، البته زمانشاه به د خراسان د مشرانو له ملاتړ څخه لاس واخلي او هغه ولایت به ایران ته ورکړي. په دې ځل فتح علي شاه خپله خوښه څرګنده کړه او شهزاده محمود ته یې

وويل ناسې به د هوا د ناوړه حالت له امله په طبس او يا هم په ترشيز کې ميشت شئ او تر بل راتلونکي کال پورې به د زمانشاه په ضد کوم اقدام نه کوئ. البته په راتلونکي کې به د هغو سيمو مشرانو ته امر وشي چې په هرات باندې د يرغل لپاره له تاسو سره مرسته وکړي. له هغه وروسته د يوې ورځې په ترڅ کې زمانشاه له هرات څخه مخ په کندهار او فتح علي شاه له سبزوار څخه تهران ته ستانه شول.

زمانشاه د ايران له لوري څخه ډاډه شو. کندهار ته راغی او هماغه ته پاتې شو، په همدې موده کې د ده په ضد يوه خطرناکه او مشهوره توطئه ترسره شوه: هغه نقاب لرونکي هندي (ميا غلام محمد) وکولای شول چې د کندهار قومي لوی فيوډالي مشران او درباري اشراف لومړی د وزير رحمت الله خان وژلو ته اړ باسي او بيا زمانشاه له واک څخه وغورځوي. خو مخکې تر دې چې دغه ناوړه قصد عملي شي منشي محمد شريف چې په خپله په همدې دسيسه کې ګډون درلود. ددغې ډلې رازونه پاچا او وزير رحمت الله ته وويل. پاچا ډېر ژر ددغې ډلې وګړي يو يو د کندهار ارګ ته راوغوښتل او هر يو يې اعدام کړ او منشي محمد شريف وستايل شو. خو ميا غلام محمد له خپلو مريدانو سره يو ځای هندوستان ته د انګرېزانو خواته وتښتېدل چې په لاره کې وزير رحمت الله خان هغه د تېښتې پر مهال ونيو او اعدام يې کړ. د هغه پټو ملګرو غوښتل چې د کندهار ښار څخه بهر د هرات په دروازه کې د هغه قبر باندې يوه جنډه لکه کړي. او د شهادت نوم ورکړي تر څو د هغه نور هم مسلکان وهڅول شي، خو د وخت په تېرېدو سره هميشني تقلب اجازه ورنه کړه.

زمانشاه په ۱۸۰۰ م کال کې په کندهار کې و چې د انګرېزانو پټې او مخالف فعاليتونه پيل شول. دغه فعاليتونه لکه هغسې چې کپتان مالکم د هند ګورنر جنرال لارد ولسلي سره ژمنه کړې وه پر مخ ولاړل او پايلې يې هم تر سترګو شوې. له هبواد څخه بهر د قاجار حکومت محمود ته وسلې ورکړې او هغه يې پر افغانستان باندې يرغل ته وهڅاوو چې خراسان ولايت ونيسي، په ختيځ کې د سکهانو بېلا بېل ځواکونه وهڅول شول چې د افغانستان د دولت په وړاندې پاڅونونه وکړي، د هبواد دننه د زمانشاه په ضد د خلکو په منځ کې، د فيوډالانو او روحانيونو له خوا زهرجن تبليغات د انګرېز په اشاره پر مخ بوتلل شول، په تېره بيا کله چې زمانشاه يوولس تنه لوی فيوډالان ووژل د نورو قومونو (لکه بارکزيو، الکوزيو، عليزيو، پوپلزيو، نورزيو، سرکانيو او بابريانو) فيوډالان د هغه پر ضد شول. په دې ډله کې يو هم د پاينده خان بارکزائي زوی فتح خان و چې ورونه يې هر يو مهراب خان، شهسوار خان، ګدو خان او الله داد خان بارکزايي، الوخان او تيمور خان الکوزاي، عبدالرسول خان، امام بخش خان، عبدالعزيز خان او محمد کريم خان عليزايي او منصور خان ګرجي زايي او نور چې ټول ۸۵ تنه کېدل له کندهار څخه وتښتېدل او په ترشيز کې د محمود له لښکر سره يو ځای شول. محمود چې دغه بانفوذه خلک وليدل او په تيره فتح خان چې يو زړور فعال او جاه طلب سړی و هم ده ته ورغی، نو پياوړی شو او ځان يې يوه پرېکنده يرغل ته چمتو کړ او د زمانشاه د راپرزولو او د افغانستان د تاج او تخت د نيولو لپاره يې ملا وتړله. که دغه فيوډالان په دې پوهيدای چې د دوی دغه اقدام د افغانستان راتلونکې له تباهي سره مخامخ کوي، نو هيڅکله به يې د مرکزي دولت په نړولو او د پرديو په هڅو د هېواد تجزيه کولو ته

Scanned by CamScanner

ملا نه وای ترلې، خو دوی زیاتره بېسواده او د پردیو د سیاست له جریاناتو څخه بې خبره خلك وو، چې د ملوك الطوايفي بیا را ژوندی کول او د مرکزي دولت د قدرت زوال یې یوه هیله وه او په دې توګه دوی کولای شول چې یو ضعیف او لاسپوڅی پاچا تل په خپله خوښه استعمال کړي او خپلې ځمکې پراخه او سیمه ییز واك ټینګ کړي.

په هر حال، کله چې زمانشاه په کندهار کې و او هرات ته نژدې و، نو د ایران یرغل او د محمود راوستل افغانستان آسانه و. نو ددې نقشې جوړوونکو چې پښتوا به یې تل د ایران په لاس په لوېدیځ کې د لاسوهنو په واسطه د زمانشاه پرمختګ د هند خواوو ته او د سند له غاړو څخه د هغه د لرې ساتلو په خاطر په کندهار کې اړ-دوړ جوړ او، اوس یې د پښتوا بر خلاف په پنجاب کې د مهابت سنګهـ په مشرۍ د سکهانو یو پاڅون را پیل کړ. نو زمانشاه مجبور شو چې دا ځل (په ۱۸۰۱ کې) له کندهار څخه مخ په کابل راشي تر څو پنجاب کې لګېدلی اور غلی کړي، په دې توګه له ترشيز څخه تر کندهار پورې محمود ته لاره پرانیستل شوه. ځکه ده فکر کاوه که چېرې له لوېدیځ څخه بیا کوم یرغل کېږي، نو لکه د پښتوا په شان به په خراسان ولایت یرغل کېږي. او بیا به وروسته په هرات باندې یرغل کېږي، نو په خراسان او هرات کې یې د خپل زوی قیصر په مشرۍ ځواکونه ځای پر ځای کړل چې نائب یې ورته د مدد خان اسحق زي زوی امیر افضل (د ایراني یرغل کوونکي د پښتواني ماتوونکي زمان خان پر ځای) مقرر کړ. خو میر افضل یو خیانت کار سړی و او د یوه فداکار شخص (زمان خان) د ځای ناستي لیاقت یې نه درلود. د کندهار نظامي افسر او والي میر علي خان (چې د شاه پسند خان لقب یې درلود) و چې پنځه زره سپاهیان یې تر امر لاندې وو او میر علي خان ډېر دنده پېژندونکی سړی و.

شاه زمان په کابل کې و چې یو ناڅاپه خبر شو چې محمود له ټولو تښتېدلو درانیو فیوډالانو سره یو ځای د قاجاري حکومت په ملاتړ پرته له دې چې په خراسان او هرات یرغل وکړي، د ترشيز له لارې په سیستان راغلی او په فراه یې یرغل کړی او بیا مخامخ په کندهار را روان دی. دغه سوق الجیشي نقشه په ډېر دقت جوړه شوې وه. کله چې محمود سیستان ته راورسېد د هغه ځای لوی فیوډال بهرام خان خپله لور د محمود زوي کامران ته واده کړه او په خپله له خپلو ځواکونو سره یو ځای ورته تسلیم شو. کندهار ته له رسېدو سره سم مهر علي خان له خپلو پنځه زره ځواکونو سره د دفاع په خاطر د هغه مخې ته ورغی چې له کندهار څخه ساتنه وکړي او په جګړه کې ښه کلك ودرېد تر څو چې دده کم شمېر پوځ د محمود د لوی پوځ له لاسه ماتې سره مخامخ شو، نور نو هغه د کندهار د ټینګولو لپاره ښار ته ننوت او پوره شل ورځې یې له هغو فیوډالانو سره جګړه وکړه چې دده مخالف وو خو په ښار کې دننه د دښمن چل ول چلېده او یو شمېر خاینانو کار شکنې کوله. مهر علي خان ته چې د کندهار ماتې حتمي ښکاره شوه، نو مخکې تر دې چې ښار پرېږدي او خپله د زمانشاه دربار ته ورشي دوه خاینان (حسن خان او امام بخش خان) یې ځکه اعدام کړل چې دوی د ښار دروازې په خیانت سره دښمن ته پرانیستې وې.

کله چې زمانشاه خبر شو له خپلو دېرش زره سرتېرو سره له کابل څخه د کندهار په لوري روان شو. د هغه پیشدور احمد خان نورزایی و، دده دغه مشهور جنرال په څو څو کورنیو او بهرنیو جګړو کې ډېر غوره

خدمتونه کړي وو، او اوس دوه پړاوه وړاندې له لس زره عسکرو سره روان و چې پوځ یې سپور نظامي پوځ و، زمان شاه لا په غزني کې و چې دښمن ته د احمد خان د تسلیم کېدو او د خیانت کولو خبر یې لګه د بربښنا په څېر په پوځ کې خپور شو. احمد خان د (سراسپ) په پړاو کې له خپل لس زره سپور پوځ سره له دښمن سره د جګړې پر ځای ورسره یو ځای شوی و. محمود له خپل پوځ سره مخ په غزني راغی. دا مهال زمانشاه داسې احساس وکړ چې د هغه په پوځ کې یو ډول پټ تبلیغ روان دی. له دې امله چې دښمن ډېر په بېړه مخ په دې خوا راته، نه یې غوښتل چې په دغه ذهني اغتشاش سره یې پوځ د محمود له لښکر سره مخامخ شي، نو ځکه د یو نوي نظامي چمتووالي په خاطر کابل ته ستون شو. محمود د غزني له نیولو وروسته بې له ځنډه د کابل په لوري روان شو. زمان شاه داسې تلقین شو چې باید پېښور ته ولاړ شي، له دې امله چې ورور یې شجاع الملك د هند د ښې ګودر د سیمې حاکم و، نو کېدای شي د هغه په مرسته نوی پوځ جوړ او کابل ته به راوګرځي. پیښې داسې راغلې چې دغه نامتو سړی دداسې تلقیناتو تر اغېزې لاندې راغی چې د کابل پر پوځ هم بدګمانه شو. نو له یو کم شمېر سرتېرو سره مخ په پېښور روان شو. له مهمو څېرو څخه یواځې وزیر رحمت الله خان ورسره و. کله چې شینوارو ته ورسېد، نو هغه ته وړاندیز وشو چې د شینوارو ملا عاشق نامي په کلکه کلا کې یوه لنډه دمه وکړي. کله چې زمانشاه له خپلو پنځلس تنو سپرو سره کلا ته ننوت، ډېر ژر یې احساس کړه چې ۲۰۰ تنه توپك لرونکي شینوارو کلابند او بندي کړی دی. له دې وروسته چې څومره پاچا او وزیر هڅه وکړه چې خاین ملا عاشق پخلا کړي او ځانته د تېښتې یوه لار پیدا کړي، ونشو.

تر دې مهال پورې محمود او د هغه پیشدار فتح خان کابل ته رارسېدلی وو او بې له کومې شخړې څخه یې پلازمېنه ونیوله. ملا عاشق خپل زوی محمود ته واستاو او د زمانشاه په هکله یې ور څخه هدایت وغوښت او د فتح خان ورور اسد الله خان ومنله چې محبوس پاچا به کابل ته راولي. محمود یو ټولی سپاره عسکر او یو تن جراح له اسد خان سره ورولېږل. کله چې زمانشاه له خپل برخلیك څخه خبر شو نامتو (کوه نور) الماس یې د یوه دېوال په یوه سوري کې کېښود. اسد خان د پاچا کوټې ته ورننوت او سپاهیانو یې پاچا د کوټې پر غولي وغورځاو جراح راغی او په نښتر سره یې د هغه سترګې ړندې کړې. وروسته یې بیا ړوند پاچا د هغه له وزیر سره کابل ته بوتلل. پاچا د بالاحصار په زندان کې محبوس شو او وزیر او د وزیر دوه ورونه (محمد خان او زمان خان) اعدام شول. په دې توګه په افغانستان کې د انګرېزانو یوه سیاسي او استعماري طرحه د یو شمېر فیوډالانو له خوا د لومړي ځل لپاره په بري سره تطبیق شوه. چې پایله یې دا شوه چې انګرېزانو په هند کې خلاصون وموند او په افغانستان کې مرکزي دولت له منځه ولاړ او ملوك الطوایفي بېرته ژوندی شوه.

په دې توګه د انګرېزانو د مخالفانه استعماري سیاست او د ایران د قاجاري حکومت د جهالت او حرص په پایله کې په تېره بیا د شهزاده محمود او یو شمېر دراني فیوډالانو د حرص او غرضونو له امله په منځنۍ آسیا کې د استعمار ضد یو لوی دولت له پښو وغورځېد او افغانستان یو ځل بیا مخ په اقتصادي او سیاسي ځوړ روان شو. د زمانشاه له خلع کېدو څخه دوه کلونه نه و تېر شوي چې د خراسان

Scanned by CamScanner

ولایت چي په کال کې يې يو میلیون روپۍ او پنځوس زره خرواره غله مالیه وه د قاجاري دولت ونیو او په ایران پوري يې وتاړه (۱۸۰۳).

وروسته بیا روسیې مرو ونیوله او پنجاب هم وروسته د زمانشاه له خلع کېدو څخه د رنجت سنګهـ لاس ته ورغی او هلته يې د خپلواکي اعلان وکړ. د زمانشاه لـه پرځېدو وروسـته د شلو کلونو پـه ترڅ کې (د وزیر فتح خان د ورونو د حکمراني په دوران کې) اټك، ملتان، کشمیر، غـازي خان ډېره، اسمعیل خان ډېره او پېښور یو په بل پسې له افغانستان څخه جلا او د سکهـ له نوي جوړ شوي دولت سره پنجاب کې یو ځای شول تر څو چې د انګرېزانو لاس ته ورشي د هېواد دغـه ټوټـه کېدل او وار پـه وار جلا کېدل د نولسمي پېړۍ تـر پـای پـوري روان و. پـه پـای کـې د انګرېـز اسـتعماري سیاست پخوانی ډېر لـوی افغانستان په اوسني یو. کوچني هېواد بدل کړ (البتـه د يـو شـمېر کورنيـو فيوډالانو پـه مرسته) د زمانشـاه بې کفایته ځای ناستو هم یو ځل بیا په افغانستان کې د ملوك الطوايفي سیستم پراخېدو تـه لار هواره کړه او هېواد يې يوه پېړۍ بېرته شاته وغورځاوه.

## د شاه محمود ابدالي د سلطنت پر مهال (۱۸۰۱ - ۱۸۰۴)

د زمانشاه له خلع کولو څخه وروسته شاه محمود پـه رسمي توګه د افغانستان پاچا شو. خو هغه په داسې يـوه بحراني او کړکېچنـه دوره کـې د هېـواد پـه اداره کولو کـې خپله بې کفايتي وښوده چې د انګرېزانو سیاست ټول افغانستان کې اور بـل کـړی و. د هېـواد پـه لوېديز کې د ايـران قاجاري دولت د انګرېزي استعمار د لاس آله جوړه شوې وه او له افغانستان څخه د خراسان د ولايت د جلا کولو پـه هڅه کې و. د افغانستان په ختيځ کې د پنجاب د سك حکومت د افغانستان يوه برخه وه، چې خپله خپلواکي يې اعـلان کـړه. قاجاري او سـك حکومتونـه دواړه د هند د انګرېزي حکومـت د ډيپلوماسي پر محور څرخېدل او د افغانستان د دولت د ضعيفه او کاواکه کولو لپاره يې عمل کـاو او دا دواړه د انګرېزانو د استعماري لښکر د مخکښ په توګه و، که چېرې انګرېزان د افغانستان دننه د اورونو پـه بلولو نـه وای بريالي شوي او فيوډالانو خپلې شخصي ګټي د ټول هېواد پر ملي ګټو لوړې نه وای بللې، نو نه ايران او نه هم پنجاب يوه هم نشو کولای چې افغانستان ټوټه کړي.

کله چې محمود پاچا شو وزارت يې محمد اکرم خان امين الملك تـه او قاضي القضاتي يې ملا محمد سعيد خان ته ورکړه. شير محمد خان مختارالدولـه د هېـواد دوهم سړی جوړ شو او فتح خان تـه د (شاه دوست) لقب ورکړل شو. د هرات حکومت شهزاده فيروز الدين ته ورکړل شو او عبدالله خان الکوزايي (د زمان شاه بندي) خوشې شو او د کشمير والي شو. د همدې سړي زوی بيا وروسته د هرات نامتو وزير شو (يار محمد خان) دا مهال په پېښور کې شجاع الملك پاڅېد او د دربار له لويو افسرانو سره يې په پټه د ليکونو په لېږلو رالېږلو پيل وکړ. له بلې خوا د غلزيو لوی قوت د عبدالرحيم خان په مشرتوب د ابدالي فاسد شوي دولت پـه ضد پاڅون پيـل وکـړ او د غزني پـه لوري راروان شول. غزنـي وپرځېد او پاڅون کوونکي لوګر ته راورسېدل. خو د شاه محمود ځواکونو د شير محمد خان مختارالدولـه پـه مشرۍ د

Scanned by CamScanner

پاڅون کوونکو مخه د سجاوند په سیمه کې ونیوله، اپاڅون کوونکو زرین کلاکي سنګر کلک کړ او په
مماغه شپه بیا مخ په کابل راغلل خو مختارالدوله مخې ته ورغی او د کابل او د هغوی تر منځ یې د بوال
وکیښ په دغه جګړه کې شپږ زره تنه ووژل شول. پاڅون کوونکي د وسلو د کمښت او د عسکري نظم د
نه لرلو له امله ماتې سره مخامخ شول بل خوا ته شجاع الملك د ګل محمد او فیض طلب بامیزایي په
لاس هغه پاڅون هم وځاپه چې زرداد خان پوپلزي له یوسفزیو څخه پیل کړی و او له لس زره سرتېرو سره
د کابل له لوري راغلی، د هغه پیشدار په جلال آباد کې د محمود په پیشدار بری ومومند. خو د محمود
پوځ د راشپان په سیمه کې د شجاع الدوله لښکرو ته ماتې ورکړه او شهزاده کامران پېښور ته ورسېد.
شجاع الملك د کرم او تیراه له لارې د خیبر درې ته وتښتېد او د نویو خواکونو په جوړولو بوخت شو.
خو بیا هم عبدالواحد د پېښور حاکم او خواجه محمد د پېښور نظامي قوماندان د شجاع الدوله
خواکونه په (سنګوخیل) سیمه کې وځپل کامران کابل ته ولاړ او د پلار له لوري د کندهار حاکم شو. په
داسې حال کې هرات د فیروزالدین په لاس کې و چې د شاه محمود ورور و. چې د زمانشاه د زوی او د
هرات د والي قیصر د نایب میر افضل په لاس ورته رسېدلی و. قیصر وتښتېد او د ځپل تره شجاع
الملك کره ورغی په ۱۸۰۳ کې یو ځل بیا غلجیو څلوېښت زره تنه راپاڅول او د عبدالرحیم خان په
مشرۍ بیا مخ په کابل راغلل او په کندهار یې هم یرغل وکړ. دا ځل وزیر فتح خان د هغوی مخې ته
ورغی او دغې جګړې ته یې قومي بڼه ورکړه. نو ځکه غلجي هم په کابل او هم په کندهار کې ناکام شول.
دې پسې وروسته د بخارا پوځونه له جیحون څخه راپوري وتل. خو د شاه محمود پوځونو هغوی ته
ماتې ورکړه. د ایران قاجاري دولت له موقع څخه استفاده وکړه مشهد او نیشاپور یې ونیول او د افغان
حاکم نادر مرزا یې د هغه د کورنۍ له ۳۸ تنو سره یو ځای تهران ته بوت پرته له یوه ماشوم څخه نور
ټول یې اعدام کړل. دا ځل شجاع الملك د اپرېدیو له سیمې څخه کاکړستان، غلجایي او شکارپور ته
ولاړ له سوداګرو څخه یې په زور سره پیسې په پور واخیستې، عسکر یې سمبال کړل، کندهار باندې
ورغی، خو په کوژك کې یې د کامران له لاسه ماتې وخوړه او ارغستان ته ولاړ، هلته د فیروزالدین او د هغه
د زوی ملك قاسم پنځه زریز پوځ ورباندې ورغی، خو شاشجاع پرته له دې چې جګړه وکړي وتښتېد.
شاه محمود له دې ټولو حالاتو سره سره د کابل په بالاحصار کې ناست و ښځو سره یې عشرت کاو، د ده
زوی کامران له پلازمېنې څخه لرې و او د دولت چارې د یو شمېر یو بل سره مخالفو خلکو په لاس کې
وې. دوی یو بل سره د قدرت په سیالي اخته وو. فتح خان (شادوست) او شیر محمد خان (مختارالدوله)
له وزیر محمد اکرم خان سره ضد درلود او جنرال احمد خان نورزایي او نواب خان او میر واعظ (لوی
روحاني) په خپله له پاچا سره کلکه دښمني کوله. شاه محمود، فتح خان، د پېښور، بنو، کوهاټ او
نورو سیمو د مالیاتو د راټولولو لپاره واستاوه، هغه چې کله پیسې راټولي کړې کندهار ته ولاړ او
کامران ته یې ځان ورساو بیا بېرته کابل ته راغی او وزیر شو. شیر محمد خان مختارالدوله چې ځان د
وزارت مستحق ګاڼه د پاچا له دغې ټاکنې څخه مرور شو او په ښکاره یې مخالفت وکړ او له سید احمد
(میرواعظ) سره یې لاس یو کړ. همدارنګه محمد علي میرآخور باشي او محمد خان نسقچي باشي

Scanned by CamScanner

لاپخوا له کابل څخه تېښته کړې وه او شجاع الملك سره یو ځای شوي وو.

په ۱۸۰۴ کال کې یو ځل بیا د لومړي ځل لپاره په کابل کې یو مذهبي اور د سني او شیعه ترمنځ ولګاو، خو وزیر فتح خان دغه اور په هماغه ځای کې ډېر په کراره مړ کړ. کله چې وزیر فتح خان له کابل څخه د بامیان خوا ته د مالیاتو د راټولولو لپاره ووت. د کابل خلکو چې د شاه محمود له اداري څخه په تنګ شوي وو پاڅون وکړ او هغه یې په بالاحصار کې کلابند کړ. د شاه محمود ځواکونو د بالاحصار له اوچتو برجونو څخه د کابل پر ښاریانو د توپ ډزي پیل کړې. خلکو د «شاه برخ» تر بېخ پورې سورې وکیندل. دا مهال د کوهدامن او کوهستان خلك هم د کابل د خلکو په پلوي را ورسېدل. مختارالدوله له کابل څخه وتښتېد او شجاع الملك ته ورغی. شجاع الدوله د کابل د خلکو په بلنه د زرمت او التمور په لاره لوګر ته راورسېد او په بېړه کابل ته راغی او د بابر په نامتو بڼ کې مېشت شو. ۱۵۰ زره تنه د هغه شاوخوا راټول شول. دا ځل وزیر فتح خان له بامیان څخه له خپلو لس زره تنه پوځ سره د شاه محمود د خلاصولو لپاره راغی خو په قلعه قاضي کې د مختارالدوله په مشرتوب د شجاع الدوله سپاهیانو هغه مخه ونیوله. فتح خان کندهار ته وتښتېد او کامران سره یو ځای شو شاه محمود اړ شو چې تسلیم شي. شجاع الدوله بالاحصار ته ننوت، محمود یې بندي کړ او د خپل سلطنت اعلان یې وکړ.

## د شاه شجاع د سلطنت پر مهال (۱۸۰۴ - ۱۸۰۹)

شاه شجاع د بېر ژر پنځه زره سپور پوځ د مختارالدوله د زوی عطامحمد خان او جنرال احمد خان نورزایي او سیدال خان په ګډون له شهزاده حیدر سره کندهار ته ولېږه شهزاده کامران او فتح خان پر ته له دې چې جګړه وکړي فراه ته وتښتېدل او کندهار ونیول شو. شاه شجاع په فراه او هرات یرغل ونه کړ، دغه ولایتونه یې لکه د پخوا په شان فیروزالدین ته پرېښودل او هغه بیا د فراه حکومت شهزاده کامران ته ورکړ، خو فتح خان هغوی سره جوړ نه شو، نو ځکه د کندهار معروف سیمي ته راغی. لږ وروسته بیا شاه شجاع د کندهار حکومت شهزاده قیصر ته وسپاره. شاه شجاع ملا عاشق شینواری کابل ته راوغوښت او اعدام یې کړ. د کوه نور الماس یې هم له کلا څخه تر لاسه شو. فتح خان د مختارالدوله په لاس شاه شجاع ته راغی او و بخښل شو. هغه دربار ته راغی، خو بیا هم د مناسب فرصت لپاره غلی شو، تر څو هغه څه تر سره کړي چې په زړه کې یې دي دا ځکه چې په افغانستان کې داسي تبلیغ شوی و چې فتح خان تاج بخش سړی دی او دې خبرو په هغه هم اغېزه کړې وه، نو پرله پسې به یې یو غورځاو او بل به یې په تخت کیناوو. دا په داسې حال کې و چې عامه ذهنیت یوازې د احمد شاه ابدالي اولادونه د پاچاهي مستحق بلل، نو ځکه په خپله فتح خان نشو کولای چې د پاچاهي دعوا وکړي، خو دا یې کولای شول چې د احمد شاه د کورنۍ یو تن پاچا کړي او هغه لکه د قلم په شان دده په ګوتو کې ولوېږي. په لومړي ګام کې لومړی تن هماغه محبوس شاه محمود و. خو نور هغه له لاسه وتلی و او د فتح خان په واك کې نه و.

فتح خان هغه مهال چې شاه شجاع له خپلو ۳۰ زرو عسکرو سره د پېښور په لوري روان شو، د پاچا له

لښکر څخه جلا او کندهار ته ولاړ او په دې لټه کې شو چې شهزاده قیصر د خپلو غرضونو وسیله وګرځوي هغه په خپل دغه کار کې بریالی شو او قیصر (چې زمانشاه دده پلار یو مهال د فتح خان پلار ور وژلی و) اوس د فتح خان په سلا - مشوره ډډه لګولې وه. خپل نایب احمد خان نورزایي یې بندي کړ او خان یې د هېواد د سلطنت رښتانی وارث اعلام کړ او وروسته یې بیا له فتح خان او د کندهار له لښکر سره د کابل له لوري مارش وکړ. شاه شجاع چې په پېښور کې ناست و او د کشمیر او دیره جاتو مالیات یې راټول کړي وو، کله چې د قیصر او فتح خان له حرکت څخه خبر شو، کابل ته راغی او په قاضي کلا کې یې لښکر ونیو. قیصر او فتح خان چې رالنډ شول، نو ګوري چې د دوی په پوځ کې درزونه لوېدلي و، فیض الله خان له خپلې عسکري ډلې سره یو ځای د کندهار له پوځ څخه جلا او د پاچا له لښکر سره یو ځای شو، نورو دواړو د جګړې زړه ونه کړ او بېرته وتښتېدل. شاه شجاع په لردو کې و خپل ورور یې اړ کړ، چې زوی یې وبښي او بېرته یې د کندهار په حکومت کې له زمانشاه سره یو ځای وګوماري. تر دې کال (۱۸۰۵) پورې د بخارا د پاچا توره استازي امیر حیدر شاه شجاع ته یو شمېر سوغاتونه او یو لیک راوړی و او هغه څه یې هیله کړې وه چې د امیر حیدر یوه لور به شاه شجاع ته او د شاه شجاع لور به امیر حیدر ته واده او د دواړو هېوادونو تر منځ به اړیکې کلکې شي. شاه امیر حیدر ته خپل زوم کېدل ومنل، خو امیر حیدر له زوم کېدو څخه یې څه ونه ویل. مصطفي خان د محمود ورور چې د بلوچستان والي و، هم کندهار ته راغی او لور یې د شاه شجاع زوی شهزاده تیمور ته واده کړه. کله چې شاه شجاع د سند په نیت له کندهار څخه ګنداب ته ورسېد په خپله محمود بلوڅ هم له شپږو زرو سپاهیانو سره د شاه شجاع له لښکر سره یو ځای شو. شاه شجاع شکارپور ته ورسېد او هلته د سند د میرانو استازیو دوه بلیونه روپۍ د سند د مالیاتو له درکه ورته ورکړې. پاچا له هغه ځایه دیره جاتو ته او په ۱۸۰۲ کې پېښور ته ولاړ. هلته یې مختارالدوله د کشمیر د مالیاتو د راټولولو لپاره وګوماره مختارالدوله په ۱۸۰۷ کې په دې نامه چې د کشمیر حاکم عبدالله خان مقاومت کوي، هغه یې له ماتې سره مخ کړ او خپل زوی عطا محمد خان یې هلته حاکم کړ او عبدالله خان چې د کار سړی و په دې اړ-دوړ کې له نړۍ سترګې پټې کړې، فتح خان چې کتل چې قیصر یو ځل بیا د کندهار والي شوی، فراه ته ولاړ او هلته یې کامران ولمساو او په ګډه یې په کندهار پوځي یرغل پیل کړ. قیصر ماتې وخوړه او کندهار د کامران لاس ته ورغی. شاه شجاع اړ شو چې پوځ ورولېږي خو فتح خان او کامران دواړه وتښتېدل. پاچا شهر صفا ته رسېدلی و چې درباریانو یو ځل بیا د فتح خان عریضه ورته وروړه. پاچا فتح خان ځان ته راوغوښت او عفو یې کړ او قیصر یې د کابل حاکم او شهزاده یونس یې د میر علي خان په نیابت په کندهار کې مقرر کړ.

کله چې پاچا شکارپور ته ورسېد همدا مهال شاه محمود د علي محمد خان پر ملي په مرسته د کابل د بالاحصار له زندان څخه وتښتېد او فراه ته ولاړ. شیر محمد خان مختارالدوله له کشمیر څخه کابل ته راغی او قیصر یې بغاوت ته ولمساو او له خواجه محمد پوپلزي سره په لاس یو کولو یې په پېښور یرغل وکړ. فتح خان هم له شکارپور څخه کندهار ته وتښتېد. پاچا پېښور ته راغی او په ۱۸۰۸ کې یې

Scanned by CamScanner

له مختارالدوله سره جګړه ونښته. مختارالدوله او خواجه محمد په جګړه کې ووژل شول او قیصر کابل ته وتښتېد، کله چې پاچا کابل ته راغی، میرواعظ لا د مخه د مختارالدوله د وینو په بدل کې بندیان شوي شهزاده ګان له بالاحصار څخه راخوشي کړل او له قیصر سره یو ځای کوهستان ته لاړل. هلته یې پناه واخیسته او د شاه شجاع له خوا لېږل شویو ځواکونو سره یې څو ځله جګړې وکړې، په پای کې قیصر شاه شجاع ته تسلیم او عفو شو، خو د کابل له حکومت څخه لرې شو. همدا مهال د مختارالدوله زوی عطا محمد د خپل پلار په کسات کې په کشمیر کې بغاوت پیل کړ، فتح خان په کندهار کې شهزاده یونس ته دوکه ورکړه او د هغه نایب میر علم خان یې کابل ته په تېښته اړ کړ. شاه محمود یې له فراه څخه کندهار ته راوغوښت او د پاچا په توګه یې اعلان کړ.

په همدا سي یو مهال کې چې فیوډالي جګړو په ټول افغانستان کې زور اخیستی و، هره ورځ په یو ځای کې لمبې پورته کېدې، د هېواد وګړي پکې وربتېدل. د مرکزي دولت ځواک له منځه تللی و او د هېواد پاچا چې د ځواکمنو فیوډالانو په لاس پاچاهي ته رسېدلی و، د هغوی د خوشاله کولو لپاره لګیا و د هېواد بېلا بېلې سیمې یې هغوی ته په اقطاع او تیول کې ورکولې او د هغوی جاګیرونه یې ور زیاتول او په خپله د هغوی په سیالۍ کې کله یوه لوري ته او کله به ته اوښت، چې په دې توګه به مقابل لوري سره دښمن شو او که به یې وغوښتل چې په خپله په خپلواک ډول په پښو ودرېږي، نو ټول به ورته یو ځای ګډ دښمنان شول. په دې توګه د شاه محمود او شاه شجاع په دوره کې مرکزي دولت وار په وار ضعیف او ټول هېواد د فیوډالانو او ملوک الطوایفي په لاس کې ولوېد. چې یو بل سره اخته وو، کوچني فیوډالان به یې ځان ته نژدې کول او خلک به یې لوټل هغوی ته د هېواد او ملت پېښه مطرح نه وه، یواځې او یواځې د شخصي قدرت او د لا زیاتو ځمکو د ترلاسه کولو په هڅه کې وو. افغانستان د شاه محمود او شاه شجاع تر پښو لاندې اور اخیستی وو.

د ایران قاجاري دولت چې دا حال ولید پر هرات یې یرغل وکړ او غلوېښت ورځې یې ښار کلابند کړ. فیروزالدین چې افغانستان په لمبو کې ډوب او ځان یې یواځې ولید، اړ شو چې ایراني میرزا محمد ولي ته سوغاتونه او پیسې ورکړي، تر څو هغه بېرته ایران ته ستون شو، خو هغه یواځې ستون نشو، بلکې د پنځه سوه افغاني ساتونکو پنځه سوه سرونه یې په نیزو باندې وټومبل او هغه یې فتح علي شاه قاجار ته واستول، او له هرات څخه د بېرته تګ په لاره کې یې ټول کلي لوټ کړل. شاه شجاع له کابل څخه له فتح خان او شاه محمود سره د جګړې په خاطر مخ په کندهار روان شو، له غزني څخه په تېرېدو او سنګي پله ته په رسېدو سره فتح خان او شاه محمود پرته له جګړې وتښتېدل. کله چې شاه شجاع کندهار سمبال کړ، د فراه او هرات په لوري ولاړ. په لاره کې ورته د فیروزالدین د تسلیمي عریضه او د شاه محمود د راتلونکو حراکاتو د نه کولو تضمین ور ورسېد. شاشجاع د فیروزالدین غوښتنه ومنله او د هرات حکومت یې ور پرېښود پاچا په ۱۸۰۹ کې د کشمیریانو د پاڅون د ټکولو په خاطر مخ په پېښور روان شو هلته یې د شهزاده منصور او محمد اکرم خان امین الملک په مشرتوب دولتي زرېز

Scanned by CamScanner

ایکر کشمیر ته واستاو، دا مهالد راجپوتانه، سند، دیره جاتو او کوهاټ له لاري د الفنستن[1] یو ځانګړی پلاوی پېښور ته را ورسېد. دغه پلاوي له پخوا د ملتان د افغاني حاکم مظفرخان له خوا په ځانګړې توګه شاه شجاع ته ور پېژندل شوی و. دا هغه مهال و چې په هندوستان باندې د یرغل کولو په موخه د ناپلیون او تزاري روسیې له یو لاس کولو څخه انګرېزانو ته خبر رسېدلی و او انګرېزانو ته له دې امله وېره پیدا شوې وه. نو ځکه د دوی سیاسي پلاوي په سند، پېښور، ایران او لاهور کې د یو شمېر تړونونو په لاسلیک کولو بوخت شول تر څو دوی اروپایي یرغلګرو ته په خپله خاوره کې د تېرېدو لار مخ په هند باندې ورنه کړي. په دې ډله کې یو هم سرهارفورد جونز و چې له لندن څخه د بمبۍ په لاره ایران ته ورغلی و. هغه د ۱۸۰۹ م کال د مارچ په دولسمه له قاجاري دولت سره یو تړون لاسلیک کړ چې د هغه له مخې ایران ژمنه وکړه چې: هیڅ اروپایي ځواک ته به هند ته د تېرېدو لاره نه ورکوي. که چېرې افغانستان یا بل ځوک پر هندوستان باندې یرغل کوي، نو ایران به د هغه د دفاع په خاطر پوځونه ورولېږي. برتانیا ژمنه وکړه چې په ایران باندې د کوم اروپایي هېواد د یرغل په صورت کې به دغه هېواد سره د جنګي او نظامي وسایلو کمک کوي. دغه پلاوي د انګلستان د پاچا له لوري یو شمېر سوغاتونه لکه هینداره، زردوزي بالاپوش، ټوپک، تومانچه، ساعت، بلوري لوښي، پیل او داسي نور، شاه شجاع ته راوړي و. کله چې الفنستن د شاه شجاع دربار ته بارياېي کېد. هغه ورځ یې په دې ډول انځور کړې ده:

پاچا د مجلس په برسر کې په یوه تخت باندې ناست و او تاج (خول) یې پر سر و او له جواهراتو ډک لباس یې پر ځان و، دربار غلی و او د تختشاوخوا خواجه سرایان ولاړ وو، هیچا د لاس خوځولو زړه نشو کولای. مونږ له لرې څخه پاچا ته ځانونه ټیټ کړل او بیا مو لاسونه پورته کړل پاچا ته مو دعا وکړه، وروسته له هغه څخه خیمې ته ور ننوتلو. چاوش باشي پر ته له دې چې زمونږ لقبونه ووایي او تشریفاتي الفاظ ووایي، پاچا ته یې یواځې، زمونږ نومونه یاد کړل او پاچا ته یې عرض وکړ: قربان، دوی له اروپا څخه د سفیرانو په توګه ستاسو درانه حضور ته راغلي دي پاچا په صاف او اوچت غږ وویل: په خیر راغلي. مونږ یو ځل بیا دعا وکړه او د دریم ځل لپاره مو تعظیم وکړ. پاچا امر وکړ چې دوی ته دې یو څه خلعت (سوغات) ورکړل شي. وروسته بیا دغه افسر قوماندہ ورکړه او هغه عسکر چې دوو خواوو ته په کتار سره ولاړ وو په یو کتار بدل شول او له دربار څخه ووتل. په دوهمه قوماندہ کې نورو عسکرو مارش وکړ، په دریمه قوماندہ کې ټول درباریان پرته له څو تنو څخه ووتل. دا مهال پاچا په ډېر پرتم سره د تخت له سره پاڅېد او د دوو تنو خواجه سرا په اوږه تکیه شو او له نظره غایب شو. پاتې مامورین هم په دوه نفري کتارونو کې وړاندې ولاړل. تر پښو لاندې غوړول شوي فرشونه ټول ډېر ښایسته غالۍ وې د کابل پاچا ډېره ښایسته او توره ږیره یې لرله د خوشحاله طبع لرونکی او څه نا څه دېرش کلن ښکارېد.

په هر حال، له الفنستن سره د خبرو کولو مامور محمد اکرم امین الملك وزیر او د شاه شجاع خزانه دار ابوالحسن وو. د خبرو اترو په پایله کې د لومړي ځل لپاره د ۱۸۰۹ م کال د جون په اولسمه د انګرېز او د

[1]: Mount Stewart Elphinston

افغانستان تر منځ یوه ژمنه لاسلیك شوه چې په مجموعي توګه یې له هند څخه د دفاع په برخه کې د انګرېزانو موخه څرګندوله. کې مې همدغه ډول بریالیتوب انګرېزانو په پنجاب او ایران کې هم تر لاسه کړ. انګرېزانو له شاه شجاع سره دې تړونونه لاسلیك کړل

یو یې همدا د پېښور و. دا په داسي حال کې چې شاه شجاع یو خپلواك پاچا و او انګرېزانو ورته له سیاسي پلوه احتیاج وو. بل یې د لاهور تړون و چې په دغه حال کې شاه شجاع یو خلع شوی او واك ورڅخه اخیستل شوی و. دریمه یې د کندهار وه چې هلته شاه شجاع د انګرېزانو تر واك لاندې و. ددغو درېواړو تړونونو منځپانګه او له یوه تن سره د هغو لاسلیك کېدل په ختیځ کې د انګرېزي ډیپلوماسۍ د ابن الوقتي روح یوه رېښتانې بېلګه ده. د پېښور تړون داسي و:

(کله چې د انګرېزانو د دولت له خوا د استول شویو ستوماني رفع او دمه یې جوړه شوه، د دوی او د پرتمین دریځ لرونکی پاچا تر منځ د دواړو دولتونو د یووالي د خبرې بنسټ کېښودل شو. د دواړو دولتونو تر منځ د دوستۍ مزې د انګرېزانو له خوا د مستر الفنستن او مستر جي وکیلین په لاس داسې منل شوې دي: د ژمني وثیقه وایي چې[1]

له دې امله چې د ایران له پاچا سره د فرانسویانو له خوا د یووالي او موافقې نښې نښانې ښکاري تر څو دوی د دې دران د پاچا او پرتمین سرکار پر هېواد یرغل وکړي او بیا وروسته بیا د هند د هېواد متعلقه په انګرېز پوري په ترلې سیمه یرغل وکړي د امیر الامرا جناب شهامت او بسالت مرتبت بنالت د ایالت منزلت العظام فراست درونډ مقام ته مستر الفنستن په دې خاطر مامور واستول شو چې د حضور د خوښې سره سم او له هغه سره یو ځای د کابل د بارګاه سپهر پاچا حضور باهرالنور اعلیحضرت ملك رفعت قمر طلعت، ناهید، بهجت، عطارد فطنت، خورشید مرتبت، بهرام صولت، برجیس سعادت، کیوان منزلت، سکندر حشم، جمشید حذم، قاآن دربان، قیصر پاسبان ظل ظلیل کردګار جلیل، خامي مراسم معدلت و ماهي آثار بدعت، المويد بتائیدات الله د دواړو سرکارانو او دواړو هېوادونو د ساتونکو د سر رشتې طرح کوونکی وي او د قاجاریانو او فرانسویانو په خیال کې جوړه کړې نقشه او د یرغل د آس مخه ونیسي. چنانچه د جناب عظمت و جلالت و اقبال ماب، حشمت و فخامت، و اجلال نصاب اریکه آرای قوت و اقتدار و ساده پیرای قدرت او اعتبار، محرم حقایق ملت مسیحیه، مشیر خاص دولت انګلیسیه بهادر، مالك و مختار جمیع امور مالي و ملکي و عسکري متعلقه ممالك فسیح المسالك سرکار انګلیس بهادر وقایع دیار هند له خوا ستاسې دربار فیض آثار پادشاه ممدوح ته متعین او مامور او په سعادت تلثیم عتبه علیه فایض او مستعد شوی دی او د خپل افادت انتهای تعینات دوستانه مقصود ستاسې معرض ته عرض او د حضور باهرالنور حضور ته تقدیم او د ممدوح پاچا مخې ته راوړي دي او ممدوح پاچا به هم د موافقې او دغه تړون ګټې او منافع چې د دواړو دولتونو په مفاد دي په دې برخه کې د حق په نظر کې وګوري او په یوه مستجق (غوره) روش او په احسن ډول ورباندې

---

[1]– د هغه مهال په تشریفاتي متونو، لیکونو، تعهداتو او تړونونو کې له عربي لغاتو ډک نثر معمول و چې کټ مټ یې د مرحوم غبار د کتاب د اصلي دري متن په ۳۹۷ مخ کې راغلي، دلته د هغه نثر د نمونې لپاره اصطلاحات کټ مټ راوستل شول

Scanned by CamScanner

پروړشي او خپلو سرکاري چارواکو ته یې د اجرا کولو حکم ورکړي او دغه سفیر سره پوهاوی وکړي او دواړو جهان مداره سرکارانو ګټي په پام کې ونیسي د دوستی دغه ترون شمامه یکجهتي ختامه او د دواړو قوي شوکتینو علیتینو دولتینو تر منځ موثقه وګرځوي (د ډاډ وړ یې کړي ژ) او په دغه برخه کې د لم یزلي لوی ذات په فضل او عنایت دغه ترون او ژمنلیك د څو شرطونو لرونکی د نوموړو چارواکو او د بهادر انګریز د سفیر تر منځ د ممدوح پاچا د ځانګړي لوربیني په مهر اختصاص او په نښه ډول انتساق اوبیايي د منظوري درجه تر لاسه کړه او دغه سفیر ددغه ترون یوه کاپي (یونقل) د ګور جنرال بهادر معزي الیه د فیض موهبت عالي خدمت ته هم د مهر او لاسلیك کولو په خاطر لیږلی دی او په هغې کې راغلي شرایط د معزې الیه نواب صاحب مخې ته بې له کوم توپیر او بدلون څخه وړاندې کړي او منظور شوي دي[۱]

د دغه ترون نقل په بالفعل ډول د لانډني تفصیل په موجب د معزي الیه نواب په لاسلیك سره او مدارنګه د هغو آمرینو په لاسلیك چې ددغې چارې په انتظار کې یې ګڼون درلود ټولو ته واستول شو او د دواړو دولتونو د چارواکو هغه ژمني او مسؤلیتونه چې پکې راغلي، د هغو د اجرا لپاره ولیږل شو چې د دواړو لوريو مسؤلیتونه پکې داسي ښودل شوي:

لومړی) دا چې له دې امله چې قاجاریان او فرانسویان له دراني دولت سره په مخالفت کې یو بل سره متحد شوي دي، که چېري وغواړي چې په سلطاني قلمرو کې را تیر شي د ممدوح پاچا د درګاه چاکران به د هغوی لاره ونیسي تر ممکنه حده پورې به د هغوی په مخنیوي کې هڅه کوي او پرې به نږدي چې د انګریز متعلقه هند خواته ورشي.

دوهم) دا چې که چېرې قاجاریان او فرانسویان خپلې معاهدې سره سم د پاچا ملك ته راشي او پوځي یرغل وکړي نو د انګریزي دولت کارکوونکي به د هغوی د دفع په خاطر له هیڅ امکان څخه ډډه ونه کړي او د هغو په ایستلو کې ځان مکلف ګڼي او که چېري د قاجاریانو او فرانسویانو تر منځ کوم قرارداد هم نه وي دغه دوه مطالب چې ستاسي په مشکین قلم ولیکل شول خامخا به اعتبار لري.

دریم) دا چې ددغه دوو دولتونو تر منځ دوستي او یووالی به تل وي او د پردي والي پرده به له منځه ځلي وي او بل کوم هېواد ته به د مداخلې هیڅ اجازه نه وي او ممدوح پاچا به په خپل هېواد کې یوه فرانسوي ته هم د ننوتلو اجازه نه ورکوي او دواړو لوريو فقط د دولتونو د خیر په منظور دغه ترون په دغه بڼه لیکلی او د ۱۸۰۹ کال د جون په اوولسمه او د ۱۲۲۲ هجري د جمادي الاول په دوهمه د ممدوح نواب صاحب او ددغه ریاست د انتظام د مامورینو په واسطه مهر او لاسلیك شو.)

۲۹ کاله وروسته بیا انګرېزانو یوه بل دري اړخیز ترون چې اتلس فقري یې درلودې په لاهور کې د ۱۸۳۸ کال د جون په ۲۲ مه نېټه له همدغه شاه شجاع سره لاسلیك کړي. دغه ترون په ټوله نړۍ کې له طوقي پلوه بیساري ده، په دې معنا چې یوې خوا ته مکناټن د هند د ګورنر جنرال اکلنډ استازي او بل

۱- د لیکوال په مهال لشریفاتي الفاظ عمداً کټ مټ راوړل شوي تر څو د متن په نرخ کې هغه دریځ چې طرفینو ته ورکړل شوی ورڅخه راسم شي چې د انګریز دولت ته د بهادر لقب او پاچا ته د ممدوح لقب څو څو خله راغلی دی. (ژ)

لوري ته د پنجاب پاچا رنجیت سنګهـ او دریم لوري یو فراري شخص او مخلوع پاچا و. دغه مخلوع پاچا د افغانستان شاه شجاع و. د دغه تړون لومړۍ ماده داسې لیکي:

(هغه څه چې د سند د سیند دا غاړه او پورې غاړه هېوادونه چې د خالصه پاچا رنجیت سنګهـ تر واک لاندې دي لکه د کشمیر صوبه، د اټک جنوبي او شمالي سیمې، چچه او هزاره. کنبل او انب او د دغو اړوند سیمې تر پېښور او تر خیبر او بنو. وزیر. ټانک. ګرانک. کالا باغ او کوهاټ او هنګو. هشت سنګر، مچنۍ او یوسفزي او خوشحال ګړه ټول دیره اسمعیل خان. دیره غازي خان. کوټ مټهن. عمرکوټ، سهسنګر. اروات مند او احل او حاجي پور. روح پور. کیچي ملک میسنګره، د ملتان صوبه او د هغې اړونده سیمې یوې باندې هم دغه پاچا (شاه شجاع) او د سدوزایي کورنۍ نور غړي په پورتنیو یادو شویو علاقو باندې هیڅ دعوا نشي کولای...)

څلورمه ماده کې داسې لیکلي و: (شکارپور او د سند هغه برخې چې د سیند ښۍ لاس ته دي د هغې فیصلې تابع دي چې د رنجیت سنګهـ او د کلادوید تر منځ به وشي او دغه ډول فیصله به د شاه شجاع د منلو وړ وي. په یوولسمه کې راغلي و: که چېرې پاچا له مهاراجا څخه نظامي مرسته وغواړي نو تر لاسه شوي غنمیت به په مساوي ډول د دواړو تر منځ وېشل کېږي خو که غنیمتونه د مهاراجه له مرستې پرته تر لاسه شوي وي، بیا به هم د هغو یوه برخه پاچا رنجیت ته رالېږي.

په څوارلسمه ماده کې وایي: (د دې واړو ممدوحین سرکار و دوست او دښمنان یعني د خالصه جي سرکار، د انګرېزي کمپنی بهادر سرکار او د دغه پاچا سرکار دوستان او دښمنان شریک دي.

شپاړسمې مادې داسې ویل: ټولې هغه سیمې چې همدا اوس د سند د میرانو په واک کې دي. شاه شجاع الملک او د سدوزایي نوره کورنۍ نسل په نسل او بطن بعد بطن په هغو باندې د فرمانبرداري، مال ګذاري، باقیات او نورو په هکله نه اوس، نه په راتلونکي کې هیڅ دعوا نشي کولای همدا د سند د میرانو ملک او مال دی او نسل په نسل به د همدوی هم وي.)

اولسمه ماده کې لیکلي و: که چېرې شاه شجاع الملک په کابل او کندهار کې د چارو د واک تر لاسه کړي نو د هرات د والي یعني د دغه پاچا د وراره تر واک لاندې سیمو باندې به هیڅکله یرغل نه کوي.

اتلسمه ماده کې داسې راغلي و: شاه شجاع الملک او نور سدوزایي کورنۍ به هیڅکله پرته د انګرېزانو د کمپنی د سرکار او جي خالصه عالیین سرکار له اجازې له کوم پاچا او د بل هېواد له سرکار سره کومه معامله او سروکارونه لري. که چېرې د کوم بل هېواد سرکار د جي خالصه سرکار[1] او انګرېزي سرکار پر سیمو تېرې کوي نو په خپل وس سره به د هغو په وړاندې مقابله کوي.

یو کال وروسته چې انګرېزان د شاه شجاع تر نقاب لاندې افغانستان ته ننوتل او شاه شجاع په کندهار کې خپله پاچاهي اعلان کړه د هغه انګرېزي (دوستانو) د ١٨٣٩ کال د مې د میاشتې پر نهمه نېټه د توري او زور تر سیوري لاندې په هغه باندې لاندنی تړون لاسلیک کړ:

لومړۍ ماده: ښکاره او څرګنده دې وي چې هغه تړون چې د ١٨٣٨ کال د جون د میاشتې په ٢٦ مه نېټه

---

١- جي خالصه سرکار څخه موخه رنجیت سنګهـ ر

د انګلیس د دولت مدار سرکار. شاه شجاع الملك شاه في جاه او مهاراجه رنجیت سنګه تر منځ لاسلیك شوي ده د هغې ټول شرایط برحال او برقرار دي. او دریې سرکاران به د تړون له شرایطو سره سم کاربند شي. اجرات به کوي)

دوهمه ماده کې راغلي و: د انګلیسي دولت مدار سرکار او شاه مفتخرالیه تر منځ به د اړیکو د دوام او د ښو اړوالي د ساتلو په خاطر د انګلیسي سرکار له لوري یو انګریز ایلچي (صاحب) تل د شاه محتشم الیه په خدمت کې حاضر وي او په مناسب حال او د مصلحت له مخې به ممدوح پاچا هم یو ایلچي له خپل لوري ځنې د ګورنر جنرال بهادر په خدمت کې وګومارل شي

دریمې مادې کې راغلي و: د پخوانیو تړونونو سره سم د مرستو د راکړې ورکړې په خاطر او د سیده بشپړې محبت او یووالي له مخې به چې د انګلیسي دولت مدار سرکار له لوري او هغه چې د شاه ذي جاه شاه شجاع د کیفیت له مخې را څرګندیږي، او د دواړو محتشم الیه سرکارانو د یووالي په خاطر به هیڅکله د پرنګي قومونو څخه کوم څوك پرته د انګلیسي د سرکار له اجازې په افغانستان کې د اوسېدو حق ونه لري او نه به دم افغانستان داسې یو څوك، نوکر، مامور یا منتظم په توګه مقرر کړی شي

څلورمه ماده کې راغلي وو یو منظم او مرتب پوځ چې انګریز صاحبان به یې سرکرده او سرداران وي د ملك او د پاچا د ذات د ساتلو لپاره او د بهرنیو دښمنانو د دفع کولو په خاطر په دوامدار ډول د افغانستان په ملك کې مقرر وي او هر هغه خدمت به چې د پاچا او دغه ایلچي (۱) په خوښه وي هغه به تر سره کوي

پنځمه ماده: ددغه پوځ لګښت به لکه څرنګه چې اوس دی. راتلونکي کې به هم همداسې وي او د انګلیسي سردارانو شمېر به په دغه پوځ کې له پنځو سو څخه زیات نه وي. تر څو په دې شرط چې پادشاه مفتخر الیه د هغو د زیاتولو غوښتنه وکړي یا پوځ زیات شي

شپږمه ماده: شاه شجاع مفتخر الیه به ددغه پوځ مشاهره تر خپل وس پورې او د امکان تر بریده له خپلې خزانې څخه کوي.

اوومه ماده: د سوداګرۍ په هکله به ممدوح پاچا د ښځایه ستونزو د پیدا کېدو په صورت کې هغه کم او زیاتولی شي او د انګریزي ایلچي په سلا - مشوره د مفتخرالیه پاچا له خوا سوداګرو ډ هوساینې لپاره هغه کړنې تر سره کوي.

اتمه ماده: د پورتنیو اوو موادو منځپانګه او مضمون به د سدوزایي سلطنت او حکومت تر بقا پورې دایماً او ابداً برقراره او په خپل حال وي (دارالقرار کندهار) په هر حال. شاه شجاع د پېښور تړون له التستین سره لاسلیك کړ، په داسې حال چې د هغه نظامي لښکر په کشمیر کې تباه شوی و او په کندهار کې محمد اعظم خان او میر علم خان د کندهار والي شهزاده یونس نابیان یو بل سره لوېدلي وو. خبره تر دې بریده پورې ورسېدله چې میر علم خان په پټه د ملامحمد سعید خان خوانچه زایي په لاس (چې د فتح خان ملګری و) تښتیدلی شاه محمود او فتح خان د کندهار د نیولو لپاره راوغوښتل، هغوی راغلل؛ میر علم له خپلو سرتېرو سره ورته تسلیم شو او شهزاده اعظم خان پېښور ته وتښتېد. شاه محمود یو ځل بیا خپله پاچاهي په کندهار کې اعلان کړه او د کندهار حکومت یې خپل ورور شهزاده ایوب او

Scanned by CamScanner

نیابت یې د فتح خان ورور اسد الله خان ته وسپارل. خو فتح خان له میر علم سره سیالي درلوده. نو هغه یې د شاه محمود په امر بندي کړ او وروسته یې بیا ووژه. دې پسې وروسته شاه محمود او وزیر فتح خان کابل ته ولاړل او د شاه شجاع د مامورینو تر منځ له مخالفت څخه یې کته پورته کړه او ښار یې ونیو او په بیړه مخ په پېښور ورغلل.

شاه شجاع هم په کشمیر کې د پوځ د ماتې له امله راستون او مخ په کابل راغی. دواړه پوځونه په نمله (ممله) کې یو بل سره مخامخ شول او کلکه جګړه ونښته. شاه شجاع ماتې وخوړه او وتښتېد. خو امین الملك محمد اکرم خان یو وفادار او زړور سړی و. د ماتې شرم یې ونه مانه او له خپلو پنځه سوه سپرو سرتېرو سره یې جګړې ته تر هغې پورې دوام ورکړ تر څو ووژل شو. د هغه بل ملګری عبدالغفور خان هم تر آخره پورې مقاومت وکړ خو په پای کې ونیول شو او اعدام شو. ددې ماتې مهم علت د جنرال مددخان خیانت و چې هم د کشمیر په جګړه کې وتښتېد او همدلته له خپلو څلورو زرو تنو سپرو څواکونو سره شاه محمود ته تسلیم شو. شاه شجاع چې پېښور ته ورسېد چې ګوري ابوالحسن خزانه دار او ملا جعفر د پاچا حرم د اټك په کلا کې پرېښی او په خپله له جواهراتو، سرو او سپینو زرو او د شاهي خزانې سره یو ځای پنجاب ته تښتېدلی او رنجیت سنګهـ ته ورغلی. ورپسې بل خبر ور ورسېد چې شاه محمود جلال آباد ته رارسېدلی او شهزاده کامران خو بیخي پېښور ته را نژدې شوی دی. په بیړه د کوهاټ او بنګښ او هزاره له لارې مقر ته ولاړ او هلته د جنوبي په ولایتونو کې وګرځېد راوګرځېد او یو لښکر یې ځانته سمبال کړ او په ۱۸۱۰ کال یې په کندهار یرغل وکړ، نواب اسد او شهزاده ایوب وتښتېدل او ښار د شاه شجاع لاس ته ورغی دا ځکه چې د کندهار افسران له شاه شجاع سره یو ځای شوي وو. خو شاه محمود له جلال آباد څخه کابل ته راستون شو. شهزاده کامران پېښور ونیو او د هغه ځای د حکومت چاري یې د مختارالدوله زوی عطا محمد خان ته وسپارلې او خپله بېرته کابل ته راغی. شاه محمود کندهار باندې یرغل وکړ، شاه شجاع له ماتې سره مخامخ شو او د دېره جاتو له لارې راولپنډۍ ته ولاړ. په دې توګه د شاه شجاع سلطنت پای ته ورسېد، خو هغه په خپل ځای نه کېناست او په ۱۸۱۱ کې کندهار ته راغی او د شاه محمود له پوځ سره ونښت، خو بیا هم ناکام شو او پېښور ته ولاړ. دا مهال د کشمیر باغي حاکم عطا محمد خان په پېښور کې واك موندلی و، شاه شجاع یې بندي کړ او په کشمیر کې یې واچاو. په ۱۸۱۳ کې د محمود لښکر دوزیر فتح خان په مشري او د رنجیت د لس زره سپاهیانو په مرسته پر عطا محمد خان بریالی شو او کشمیر یې ونیو. وزیر فتح خان شاه شجاع له هغه ځایه د محکم چند (سنګهـ قوماندان) په لاس رنجیت سنګهـ ته واستاوه. شاه شجاع په لاهور کې د رنجیت له خوا ډېر وکړول شو تر څو د کوه نور الماس ورڅخه تر لاسه کړي، شاه شجاع په یوه عجیب چل باندې په ۱۸۱۵ کې لومړی خپل حرم او بیا خپل ځان خلاص کړ او یو ځل بیا یې یو لښکر سمبال کړ او پر کشمیر یې یرغل وکړ خو له ماتې سره مخامخ شو او په ۱۸۱۲ کې لودهیاني ته ولاړ. له دې وروسته هغه له خپلې کورنۍ سره همالته اوسېد او انګرېزانو د خپلې دوستۍ په لومه کې تر پوره اغېزې لاندې راوست تر څو چې هغه په ۱۸۳۸ کې له رنجیت سنګهـ او انګرېزانو سره یوه درې اړخیزه معاهده لاسلیك

کړه په ۱۸۳۹ کې د انګریزانو لـه لښـکر سره افغانسـتان تـه راغـی او پـه ۱۸۴۲ کال کې د خپلو انګریزي دوستانو له اردو سره یو ځای د افغانستان د خلکو د پاڅون په توپان کې ورک شو.

## د شاه محمود د دوهم ځل سلطنت په دوره کې (۱۸۰۹ - ۱۸۱۸)

د شاه محمود دوهم ځل سلطنت چې د وزیر فتح خان په مرسته جوړ شو. د افغانستان د اداري بڼه بدله کړه. په دې معنا چې شاه شجاع لـه خپلـو ټولـو ځواکمنو پلویانو سره له منځه تللی و او نور نو پیاوړې او د قـدرت دعـوا لرونکـی فیـودالان لکـه محمـد اکـرم خـان امـین الملك او شیر محمد خان مختار الدوله او میر علم خان او نور وژل شوي وو. نو په دې توګه وزیر فتح خان له خپلو ۱۸ ورونو سره پر شاه محمود او د دولت په اداره باندې واکمن شو. دا په داسې حال کې چې شاه محمود د کابل په ارګ کې په عیاشي بوخت و او د هېواد له چارو او اداري ځخه بېخي خبر هم نه و. وزیر فتح خان د خپل شخصي واك د پیاوړي کولو لپاره د هېواد مهم ولایتونه لکه د میراثي مال په شان په خپلو ورونو وویشل. د بلوچستان ولایت یې سردار رحمدل خان ته (له دې وروسته د سردار او نواب لقبونه ذکر کېږي چې د محمدزایي ورونو لپاره کارول کېږي). کندهار یې سردار پردل خان ته. پېښور یې سردار سلطان محمد خان طلایي ته. غزني یې سردار شیردلخان ته او بامیان یې سردار کهن دل خان ته ورکړل. دا په داسې حال کې چې د وزیر یو څو نور ورونه لکه سردار محمد عظیم خان. نواب عبدالجبار خان او نواب اسد خان او سردار دوست محمد خان د دولت په مرکز کې په اداري چارو بوخت پاتې شول. شهزاده کامران له خپل بې سرحده ځواك سره له فتح خان او د هغه له ورونو سره مخالفت درلود، خو د خپل پلار له ادارې پرته یې څه نشو کولای.

وزیر فتح خان د کورنیو چارو له سمبالولو وروسته د کشمیر د حاکم عطا محمد خان د لرې کولو په لټه کې شو په داسې حال کې چې هغه شاه شجاع بندي کړی او شاه محمود سره یې کوم مخالفت نه درلود، نو وزیر فتح خان غوښتل چې هغه له دې امله له منځه یوسي چې هلته په کشمیر کې یې رسوخ او نفوذ درلود او یو اغېزمن سړی و او کشمیر خپل ورور سردار عظیم خان ته ورکړي. نو ځکه په ۱۸۱۲ کې له کابل ځخه له یوه لښکر سره روان شو. خو خبر شو چې عطا محمد خان له یوه لوی لښکر سره دفاع ته پاڅېدلی دی، نو ځکه فتح خان د پنجاب د سکهـ له دولت سره اړیکې ونیوې او هغه سره یې تړون وکړ چې د رنجیت سنګهـ په نظامي مرسته به د کشمیر افغـاني حکومت نسکور کړي او د هغه پر ځای به کشمیر کې په یو ډول سره د بهرني لاس ننوتلو ته لار پرانیزي. وزیر رنجیت سره دا منلې وه چې د کشمیر له پرځولو وروسته به د کشمیر په مالیاتو کې د پنجاب حکومت ته هم برخه ورکړي. همدا د فتح خان یو ډېر لوی منفي عمل و چې په کمین کې ناست دښمن ته یې په افغاني خاوره کې د لاس وهلو لاره جوړه کړه. دا په داسې حال کې چې انګریزانو لا زیات سکهان لمسول چې د افغانسـتان په وراندې لاسوهنه وکړي. کله چې رنجیت له فتح خان ځخه دا ډول دوی ته په زړه پوري غوښتنه تر لاسه کړه، ډېر ژر یې د جنرال محکم چند په مشرتوب لس زره پوځ ورسره کړ. د سکهانو دغه پوځ د فتح خان له پوځ سره اوږه په

اوره کشمیر ته ننوت. د کشمیر حکومت سردار عظیم خان ته وسپارل شو او د فتح خان دغه عمل د افغانستان او د افغانستان د ملت په زیان و. (فریر) د فتح خان د شخصیت او اعمالو په هکله داسې لیکلي دي:

هغه (فتح خان) یو غوره سړی و چې د ښه نبوغ تر څنګ یې د حکومت کولو لیاقت او د جګړې خواک درلود.... په فعالیت کې یې ساری نه و.... فتح خان ډېر زر خپل هېواد ته د احمد شاه د دورې شوکت بېرته راوست.... افغانانو ورته د ستاینې په سترګه کتل. خو خپل پاچا ته یې په سپک نظر کتل.[۱]

رنجیت سنګهـ دا هم بس ونه ګڼله. هغه چې کتل چې فتح خان له عطاالله خان سره ښه پوره دښمني کوي، نو لښکر یې سمبال کړ او په همدغه (۱۸۱۲) کال یې د عطا محمد خان له ورور څخه د سند تر غاړې د اټك نظامي کلا ونیوله. په بل کال یې د سردار دوست محمد خان د هغه دولس زره کسیز پوځ مخه ونیوله چې مخ په کشمیر روان و او هغه یې له ماتې سره مخا مخ کړ. له دې څخه وروسته په ځرګند ډول د رنجیت لاس د سند د ښې لاس په سیمو کې فعال شو او په زړورتیا یې لاسوهنه کوله. په ۱۸۱۴ کې رنجیت کشمیر ته پوځ واستاو او د جون په میاشت کې یې وویل چې د کشمیر دریمه برخه مالیه ده ته نه ده ورکړل شوې. خو سردار عظیم خان رنجیت سنګهـ ته ماتې ورکړه د رنجیت سنګهـ ډېر عسکر او د هغه نامتو جنرال (مته سنګهـ) په همدې جګړه کې ووژل شول. رنجیت په ۱۸۱۸ کال کې د افغانستان له کورنیو جګړو څخه پوره ګټه اوچته کړه او پر ملتان یې یرغل وروړ. د ملتان افغاني حاکم ښه په مېړانه شپږ میاشتې د یوه بهرني ځواك په وړاندې ودرېد، خو د افغانستان دولت هیڅ مرسته ورسره ونه کړه په پای کې مظفر خان له خپلو دوو زامنو سره ووژل شو او دوه نور زامن یې د دښمن په لاس ونیول شول او ملتان دښمن ونیو، حال دا چې شاه محمود او فتح خان یو بل سره لوېدلي وو، تر څو چې دواړه له منځه ولاړل.

فتح علي شاه قاجار چې لا د مخه خراسان نیولی و، د هرات د نیولو په لټه کې شو او په ۱۸۱۶ کې یې د حسن علي مرزا په مشرۍ یو لښکر د هرات پر لوري ورووست، هلته یې د غوریانو کلا ونیوله. شهزاده فیروزالدین له کابل څخه مرسته وغوښتنه. شاه محمود د فتح خان په مشرۍ هرات ته یو پوځ واستاو. وزیر له خپلو څو ورونو (پردل خان، شیردل خان، کهندل خان او دوست محمد خان) سره هرات ته ورغی، خو مخکې تر دې چې د دښمن مخه ونیسي فیروزالدین یې ونیو او بندي یې کړ چې هغه د دوی مخې د هر کلي لپاره راغلی و او کهندل خان او دوست محمد خان یې ښار ته د ننه واستول. هغوی یو ناڅاپه ارګ ته ننوتل. د هرات افسران او ساتونکي (زنیل خان او حسن خان) یې ووژل او د شاه محمود زوم شهزاده قاسم یې ټپي کړ او د هرات وزیر حاجي آقا جان یې له سردار عبدالرشید سره یو ځای اعدام کړل او په خپله د شهزاده فیروزالدین حرم ته ورننوتل د هغه ټولي نغدي پیسې او سره زر یې واخیستل، آن

---

۱- د سند د حاکم هنري بارټل ادوارد فریر (Frere) (۱۸۵۰ ۱۸۵۹) له خبرو څخه هغه نقل قول چې قاضي عطاالله خان د پښتو د تاریخ په لومړي ټوک کې ۲۰۷ مخ کې راوړی. فریر هغه څوک و چې په سند کې یې د میرانو حقوق ورڅخه واخیستل او په افغانستان کې یې د برمختګ سیاست پر مخ بوت او د هغه په پاځون کې یې د افغانستان د ختیز پولو د پښتنو د پاڅون مخه ونیوله. هغه د خپل کاکا (جان هرګم فریر) د یادښتونو په اساس یو کتاب هم لیکلی دی.

دوست محمد خان په خپل لاس د قاسم د میرمنې ګاڼې د هغې له لاسه څخه واخیستې چې هغه د [...]اچې
[...]اه محمود لور وه. کله چې فتح خان ښار ته ننوت. دوست محمد خان له دې وېرې له هرات څخه کشمیر
ته وتښتېد چې فتح خان قیمتي ګاڼې ور څخه وانخلي. هلته سردار عظیم خان د وزیر فتح خان د لیك له
مخې له دوست محمد خان څخه غصب شوې ګاڼې واخیستې او په خپله یې د کوه ماران په زندان کې
بندي کړ. فتح خان فیروزالدین او د هغه کورنۍ کندهار ته واستول او بندیان یې کړل او وروسته تر هغه
اوسنۍ اسلام کلا ته روان شو چې له دښمن سره جګړه وکړي. سره له دې چې ټپي شوی و خو دښمن ته یې
په کهسان کې ماتې ورکړه او مشهد ته یې په تښتېدلو باندې اړ کړ.
هغه چلند چې فتح خان په هرات کې د شاه محمود خان له ورور فیروزالدین او د هغه له کورنۍ سره وکړ،
د ټول هېواد د امنیت د له منځه تلو لپاره وروستۍ بهانه شوه. کله چې دا خبر کابل ته راورسېد. نو شاه
محمود د ۱۸۱۷ په ژمي کې کامران هرات ته واستاوه چې د خپل تره په ځای د هرات د حکومت چارې
تر لاسه کړي. کامران چې لا له پخوا څخه د دولت په چارو کې د فتح خان له زیات واك څخه خورېدلی و،
نو کله چې وزیر دده دربار ته راغی نو د خپلي خور په وړاندې د هغه بې احترامي یې بهانه کړه، نو امر
یې وکړ چې هغه ړوند کړي او بیا یې بندي کړ. د وزیر وروڼه وتښتېدل او د وزیر ړندول یې په ټولو هغو
سیمو کې د پاڅونونو لپاره بهانه وګرځوله چې د دوی تر واك لاندې وې، په دې توګه یو ځل بیا په
افغانستان کې کورنۍ جګړې پیل شوې. سردار محمد عظیم خان په کشمیر کې د پوځ په سمبالولو پیل
وکړ او سردار دوست محمد خان یې له بند څخه را خلاص کړ او د پېشدار په توګه یې کابل ته واستاو.
سردار پردل خان پر کندهار یرغل ته چمتو شو. د شاه محمود والي ګل محمد خان له کندهار څخه هرات
ته وتښتېد. شاه محمود د کابل حکومت خپل لمسي جهانګیر ته ورکړ او د کشمیر پخواني والي عطا
محمد یې د هغه وزیر کړ. او په خپله غزني ته ولاړ. کامران هم له هرات څخه غزني ته روان شو.
کله چې سردار یار محمد خان او سردار دوست محمد خان پېښور ته راورسېدل، د شاه محمود خان له
ښتون سره سره یې شهزاده ایوب سدوزایي د پاچا په توګه اعلان کړ. حال دا چې سردارد محمد خان لا
مخکې فراري شاه شجاع د افغانستان د سلطنت او پېښور ته د راتګ لپاره په لیکلې بڼه راغوښتی و.
دوست محمد خان کابل ته ورسېد. شهزاده ایوب د کابل حاکم د هغه له لاسه غزني ته وتښتېد د هغه
وزیر عطا محمد خان یې ونیو او ړوند یې کړ او په خپله یې کابل شاوخوا کې سنګرونه ټینګ کړل.
سردار عظیم خان له کشمیر څخه پېښور ته راغی او شاه شجاع یې د هغې ژمنې برخلاف چې ورسره کړې
یې وه وټکاوه او شکارپور ته یې په تېښته اړ کړ، شاه محمود او کامران دواړو له غزني څخه د کابل خوا
ته حرکت وکړ او بندي کړل شوی فتح خان یې د سید آباد په پړاو کې اعدام کړ، خو کله چې د کابل چهار
آسیاب ته را ورسېدل، خبر شول چې سردار کوندل خان، سردار شیردل خان او سردار پردل خان له
نادعلي څخه پوځ را روان کړی او کندهار یې نیولی دی او بیا چې دوی له هرات سره د خپلو ارتباطي
کرښو د پرې کېدو له امله په وېره کې شول، نو د کلات او د هراود له لارې یې خانونه هرات ته ورسول.
په دې توګه پرته له هرات څخه نور ټول افغانستان د محمدزایي وروڼو لاس ته ورغی او په ۱۸۱۸ کال

Scanned by CamScanner

کې ابدالي دولت ونړېد او فیروزالدین هم له هرات څخه ایران ته پناه یووړ.

پاتې نور ابدالي دولت فقط د یوه شهزاده نشین کوچني قالب په بڼه د هرات په ولایت کې تر ۱۸۲۳ کال پورې پاتې و چې وروستی پراخوالی یې تر فراه. میمنې او د هزاره جات تر یوې برخې پورې و، کله چې شاه محمود هرات ته ورغی شهزاده کامران په قوت سره د هرات حکومت راټینګ کړ، شاه محمود چې دا حال ولید. نو له هرات څخه ووت او ایماق قوم څخه یې یو لښکر جوړ او هرات یې کلابند کړ، خو په ۱۸۲۰ کال کې د خپل زوی له لاسه ماتې سره مخامخ شو، په ۱۸۲۱ کې یې پر هرات یو بل یرغل وکړ. دا ځل خلکو منځګړیتوب وکړ پاچاهي یې پلار ته او وزارت یې زوی ته ورکړل، سوله ټینګه شوه. له دې وروسته شاه محمود پرته له عشرت او ښځو څخه په بل څه کارنه درلود او کامران خپلواک حکومت چلاو. په ۱۸۲۲ کې فراري فیروزالدین د قلیج خان تایمني او د قاجاري حکومت په ملاتړ پر هرات باندې یرغل وکړ. د کامران ځواکونو په مېړانه دفاع وکړه او وروسته تر یوولسو جګړو څخه یې قلیج خان د جګړې پر ډګر وواژه او فیروزالدین یې ژوندی ونیو. قاجاریانو په ۱۸۲۳ کې یو ځل بیا یرغل وکړ او د کامران ځواکونو بیا هم درې میاشتې کلک مقاومت وکړ. دا ځل د ایران ځواکونه اړ شول چې د پیسو په وړاندې روغه جوړه وکړي. کامران وروسته له هغه په دې لټه کې شو چې د فراه ولایت (چې د کندهار سردارانو ته تسلیم شوی و) بېرته تر لاسه کړي، نو په عسکري پوځ سره یې هغه ونیو.

د هرات ځواکمنو فیوډالانو لکه محمد حسین حاکم او مصطفي د هرات قوماندان پاڅېدل او د کامران ۲۳ کلن زوی یې د پاچا په توګه غوره کړ، دا په داسې حال کې چې شاه محمود په مانۍ کې ناست و او شراب یې څښل، خو محمد حسین او مصطفي هم ډېر ژر جهانګیر شهزاده بندي کړ او په خپلو منځو کې سره ونښتل. محمد حسین شهزاده فیروزالدین له بند څخه راخلاص کړ او د مشر په توګه یې را مخې ته کړ او مصطفي شاه محموذ له یوه بڼ څخه را وکیښ او تر علم (جنډې) لاندې یې رامخکې کړ، وروسته تر ۱۸ ورځو جګړو څخه چې هرات ښار د ارګ تر ګولیو لاندې و. فیروزالدین او محمد حسین له ماتې سره مخامخ شول او مشهد ته وتښتېدل. کامران چې دا مهال له فراه څخه راستون شوی و په لاره کې له مصطفي سره مخامخ شو، نو ځکه بېرته وګرځېد. مصطفي د کندهار د حاکم سردار شیردل خان یو یرغل هم په شا وتمباو او په خپله یې خان خپلواک کړ، خو د هرات خلکو کامران د هغه د زړورتیا له امله غوره باله خلکو پاڅون وکړ او لس زره تنو د هرات ارګ کلابند کړ او مصطفي ارګ کې دننه پاتې شو، خلکو کامران ته بلنه ورکړه. کامران یوه میاشت کې راورسېد، ارګ یې ونیو او مصطفي یې اعدام کړ، پلار یې یوه میاشت له شرابو منع کړ او یاغي زوی یې بندي کړ. فراه چې دا حال ولید بېرته یې خان کندهار پورې وتاړه، خو کامران بیا فراه له هرات سره په زور یو ځای کړه. په ۱۸۲۹ کې شاه محمود د هغه د مانۍ په حمام کې مړ وموندل شو. له دې وروسته شاه محمود ځان د ابدالي پاچایانو د ځای ناستي په توګه اعلان کړ. د کامران وزیر عطا محمد خان الکوزايي و چې په ۱۸۳۰ کې ومړ. کامران د هغه په ځای د عبدالله خان الکوزايي زوی یار محمد خان چې یو لایق شخص و مقرر کړ. یار محمد خان ورو ورو اداري او عسکري نظم بېرته ټینګ کړ او د هرات په چارو کې یې خلا راوسته، خو ډېر وخت نه و تېر چې د فتح

محمد شاه قاجار د تزاري روسیې سیاسي اغېزي لاندي ورغی او له یوه منظم اردو علیشاه خاى ناستى سره چې پیاوړى توپچي یې درلود او اروپایي افسران یې په سر کې وو. په ۱۸۳۷ کې په هرات راغی په هغه وخت کې انګرېزانو د هېواد په ختیځ باندي د یرغل نیت وکړ. دا مهال افغانستان له یوه وژونکي کړکیچ سره مخامخ شو. ځکه چې خپل مرکزي دولت او ټول موسسات یې له لاسه ورکړي وو ابدالي دولت له منځه تللی و او پر ځای یې د هیواد په ټولو سیمو کې کوچني ملوك الطوايفي رامنځته شوي وي. دغه ملوك الطوايفي (محمدزايي ورونو) خواکمن بهرني دښمنان لکه انګرېزان او د پنجاب سکهـ حکومت او ایران هیر کړي وو او یو بل سره اخته وو. هغوی د ایران یرغل د هرات پر ابدالي دولت وسنایه. دوی به د خپلو ګټو په خاطر کله روسیې ته. کله ایران ته او کله هم انګرېزانو ته د دوستي لاس غځاوه. په داسي حال کې چې ایران په خپله د خارجي سیاست یوه وسیله ګرځېدلې وه او د انګرېزانو استعماري دولت او روس دواړو د افغانستان د خپلواك او قوي دولت او د ایران اود پنجاب مخالفین وو.

محمد شاه قاجار د تزاري دولت د سیاسي اونظامي ځیرو په لارښوونه وکولای شول چې د پر زر د ۳۲ زره سرتېرو او ځواکمن توپچي ځواك په لرلو سره یو اردو په ایران کې جوړ کړي او پر افغانستان یرغل وکړي. په دغه یرغل کې د ایران مهمو فیوډالانو او شهزاده ګانو برخه واخیسته. تر څو دوی د افغانستان پولو ته رارسېدل شمېر یې څلوېښت زره تنو ته ورسېد په دغه اردو کې اروپایي قوماندانان په ایران کې د روس سفارت د انجنیري یو افسر لفتننټ کلونل پلارم برګ. بل یې جنرال بوروفسکي او کلنل سمینوف (چې د ایران له خوا استخدام شوي و) او مارجن سمسون او یو تن پولندي افسر و چې پروسکي نومید. دوی د نظامي نقشو په جوړولو. د انجنیري چارو او توپچي په برخه کې د هرات په جګړه کې برخه واخیسته. ایراني لوی افسران دا وو: محمد ولي خان سپهسالار. شهزاده محمد رضا. شهزاده علي قلي میرزا. سلطان محمد میرزا. شهزاده بوحمزه میرزا فرخ غفاري. سکندر قاجار. جعفر قلي سالار. محب علي جنرال. عبدالله یاور. جعفر سرهنګ. شیر خان. احمد بیګ. نبي قراګوزلو. رشید خان. اسمعیل خان. خانلرخان. مهدي قلي. باقر خان. علیمردان. عبدالحسین بیګ. محمد خان سردار او نور افسران. د ایران په وړاندې یواځي د هرات ولایت او په تېره بیا د هرات ښار ولاړو چې یواځي شپږ زره افغانان عسکر یې درلودل. خو د کندهار محمدزايي سردارانو د دښمن لوری غوره کړی و او د سردار کوندل خان زوی سردار عمر خان څلور زره پلي سرتېري برابر کړل او د محمد شاه قاجار مرستې ته یې هرات ته ولېږل. دغه سردار د شهزاده کامران د زوی جلال الدین څخه د اسفزار او فراه د نیولو په خاطر د ایران په ګټه جګړه کوله. همدارنګه سردار دوست محمد خان له کابل څخه د ایران دولت وهڅاوه چې هرات ونیسي[1] سردار شمس الدین خان د شهزاده کامران اوښی (د میرمني ورور) په خاینانه ډول د ښار له دننه څخه د دښمن اردو سره یو ځای شو او هلته یې د ایراني اردو د آذوقې د رسولو دنده په غاړه واخیسته. په دې توګه د افغانستان ملي ګټې د فیوډالانو د سیالیو او د شخصي غرضونو او خانداني لانجو لپاره برباد شوې. په ایران کې د روسیې سفیر کنټ سیمونچ او په کندهار

[1] - تاریخ افغانستان در قرن نزدهم - د سید قاسم ریښتیا تالیف- د کابل چاپ ۶۴ مخ.

کې د هغه استازي ویکوویچ د فیوډالانو له دغه چلند اودغو سیالیو څخه ګټه اوچتوله او هرات یې د ایران په واك کې ورکړ.
انګرېزي دولت چې عملاً په هرات کې د ایران له نظامي پرمختګ څخه په وېره کې و او په ایران کې د روس د سیاسي پرمختګ له مخنیوي څخه عاجز و نو برنس او مستر لیچ له کابل څخه کندهار ته ورغلل. په خپله په دې لټه کې شول چې له روسیې سره د مقابلې په خاطر افغانستان ونیسي. په دې توګه افغانستان د ژوندي د دوو تېرو تر منځ راغلی و او همدا مهال د افغانستان د خلکو حیرانوونکی استعداد په آسیا کې راڅرګند شو.
محمد شاه د ۱۸۳۷ په وروستیو کې د افغانستان له پولو څخه راتېر شو او د غوریانو کلا یې په زور ونیوه او د وزیر یار محمد خان ورور سیر محمد یې د کلا سره یو ځای ونیو. د هغه پیشدار الله یار اصف الدوله له خپلو دولس زره سرتېرو او نهو توپونو سره وګومارل شو چې له هرات څخه تر میمنې پورې ودانګي. محمد شاه د ۱۸۳۷ کال د نوامبر په ۲۳ مه د هرات ښار کلابند کړ او دغې کلابندۍ د ۱۸۳۸ کال مي د میاشتې تر اتمې نېټې پورې یعنې نژدې دولس میاشتې دوام وکړ. په دغه موده کې د ایرانیانو یرغلونو د هرات شاوخوا ۳۰ کیلو متره سیمې ټولې ویجاړې کړې، کروندې له منځه ولاړې، کلي لوټ شول، د دښمن ګولیو د ښار دننه ټول بازارونه ونړول، سرایونه او ودانۍ ولوېدې او په هرات کې لویه کاختي راغله. د غوریانو په کلا کې د شیر محمد خان په وړاندېز ومنل شوه چې هر بندي لومړی د ۲۵ زرو روپیو په بدل کې د محمد شاه له لوري خوشې شي، خو دغه پیسې نشوی پوره کېدای. هغه مهال چې یوه بندي په چړې سره په خپله په محمد شاه باندې ګوزار وکړ خو ناکام شو او له منځه یووړل شو، نو محمد شاه او کړ چې ټول افغاني بندیان دې اعدام شي. له دې امله چې په هرات ښار کې خوراك نه موندل کېدی نو وزیر یار محمد خان دوزره ښځو، ماشومانو او بوډاګانو ته اجازه ورکړه چې له ښار څخه ووځي، خو محمد شاه هغوی ټول خراسان ته تبعید کړل.
افغانانو په خپل هماغه پخواني ملي نظامي تکتیك سره دفاع ته ملا وتړله، یعنې دوی د داړې، کوریلایي او شبخون په یرغلونو دښمن باندې ګوزارونه پیل کړل. په دې لړ کې یو شمېر خلکو د شیر محمد هزاره په مشري په یوه یرغل کې د ایراني پوځیانو ۲۰۰ آسونه تر لاسه کړل او د شکیبان د کلي خلکو د شیخ جام زیارت سره د ایراني مویدالدوله د آذوقي رسولو کاروان له منځه یووړ. په اندخوی او میمنه کې زرورو ازبکانو د آصف الدوله په وړاندې توري ته لاس کړ اود آصف الدوله د بېرته راستنېدو پر مهال د جمشید او هزاره خلکو ایرانیانو ته ښه زیاته مرګ ژوبله واړوله او د هغه مات ګوډ پوځ بېرته د ایران اردو ته ورغی. د میمنې حاکم مضراب خان، شیر محمد خان هزاره، زمان خان جمشیدي، شاه پسند خان فیروز کوهي او خلیفه عبدالرحمن ترکمان ټولو د ازبکو، هزاره او ترکمنو، جمشیدي او فیروزکوهي داوطلبو څخه یو دولس زره کسیز سپور او پلي لښکر جوړ او د دښمن په شړلو کې یې برخه واخیسته. د خوارزم حاکم علي قلي طوره زر تنه مرستندوی سپاره راولېږل له کندهار څخه هم زر تنه داوطلب مخه ونیوله او د محمد شاه په امر پرته له یو تن څخه نور ټول ووژل شول او له سرونو څخه یې

شول او هغه یوتن ژوندی یې پرېښود چې دغه خبر کندهار ته ورسوي.
ځلې چوړ شول او هغه یوتن ژوندی یې پرېښود چې دغه خبر کندهار ته ورسوي.

ځلې چوړ د کرخ خلك د هرات له کاختي څخه خبر شول د زیاتو تلفاتو په منلو سره یې یو ځه غله هرات ته
کله چې او د غلي رسولو دغه لړۍ یې د جګړې تر پای پورې وغځوله. روسانو د هرات د نیولو لپاره په
درمړله کاو او په تهران کې دا تبلیغ روان و چې وروسته دهرات تر نیولو به روسان خپل ټول
بېړی تینګار کاو او په تهران کې دا تبلیغ روان و چې وروسته دهرات تر نیولو به روسان خپل ټول
پوځونه ایران ته وبښي، نو محمد شاه یې هڅاو چې خامخا به هرات نیسي.
له دې امله چې په ایران کې د انګرېز سفیر مستر مکنیل د محمد شاه په اردو کې او مستر پاټنجر د
هرات په ښار کې په نظري توګه دهرات د دفاع ملاتړ کاو سره له دې چې فعالیت یې تش لاس و. خو
کنټ سیمدنج د روس سفیر یې په اند ښنه کې اچولی و. محمد شاه خپل وروستی پرېکنده یرغل پیل
کړ: محمد خان امیر تومان د کندهار د دروازې په وړاندې. محمد ولي سالار د لوېديز پر دروازه د برید
لپاره، امیر بهادر جنګ په خاکستر برج باندې په برید. صمصام الدوله د عراق په دروازه باندې په
برید کولو او روسي سمینوف او پولندي پروسکي د استحکاماتو او د نقبونو په تنظیم باندې وګومارل
شول. د ښار د ټکولو لپاره درې غونډۍ جوړې شوې وې چې یوه د «دروازه خشك» په وړاندې او بله د
کندهار دروازې په وړاندې وه. لس لوی توپونه چې ۷۲ پونډه ګولۍ یې ویشتلې د ښار د ویشتلو لپاره
په دغو غونډیو باندې ودرول شول. ایراني شهزاده ګانو له ۲۴ لویو توپونو او لسو ګولۍ ویشتونکو
سره د یرغل لپاره ځان چمتو کړ. محمد شاه امر وکړ چې د هرات د هدیرو تاریخي او د تیرو تختې
راوکاږي او د توپونو لپاره یې ګولۍ ور څخه وتراشلې. کله چې مستر مکنیل دا حال ولید او د ایران د
پاچا مخنیوی یې ونشو کولای اردو یې پرېښوده او ایران ته ولاړ او هلته د انګلستان حکومت سره په
تماس کې شو. البته پالمرستون مکنیل ته د ایران په ضد د ځواکونو د استعمالولو واك هم ورکړ، خو
وخت له وخته تېر و. له دې امله چې محمد شاه د هرات له حکومت سره د سولې او روغې په هڅه کې
ناکام شوی و نو ځکه یې د وروستي قمار په توګه په جګړې لاس پورې کړ. دا ځکه چې شهزاده کامران
او وزیر یار محمد خان د محمد شاه استازي عزیز خان وشاړه چې هغه دا غوښتنه کړې وه چې هرات دې
د ایران یوه برخه شي او هم یې دا خبره نه وه منلې چې دواړه دې محمد شاه ته ورشي. همدارنګه دوی د
محمد شاه هغه وروستی غوښتنه هم نه وه منلې چې د هرات نامتو انځورګر او خطاط عبدالرحمن دې د
محمدشاه دربار ته ورشي. خو د هرات حکومت د محمد شاه استازی (عزیز خان) سره صرف دومره منلې
وه چې که د ایران اردو هرات پرېږدي او بېرته ایران ته وګرځي نو یو څه پیسې به د ایران دولت ته ورکړي
او بس. محمد شاه دا نه منله چې په دې دومره لګښت او په دومره زیات چمتووالي سره په دغه لږو
پیسو ورکولو باندې قناعت وکړي، نو په دې توګه یې په هرات باندې د جګړې د پیل عمومي امر ورکړ
او په یوه ورځ باندې یې د توپونو څلوېښت زره ګولۍ وویشتلې، خو د هرات خلکو څه وکړل؟ ملا
عبدالحق منبر ته وخوت خلکو ته یې وویل چې ایرانیان د هېواد دښمنان دي، د دښمن په وړاندې له
هېواد او خپلواکي څخه دفاع د (جهاد اکبر) حکم لري. ملا عبدالحق د جهاد دغه اعلام په بېلو بېلو
رسالو کې لیکلی و او هغه یې په خلکو باندې وېشلی و او هم یې نورو لري لري سیمو ته لېږلی و. د

هرات زاړه او ځوانان د جهاد د دغه اعلان سره سم پاڅېدل، په زړګونو تنو غسل وکړ، نوکان یې واخیستل او کفنونه یې واغوستل او جنډې یې پورته کړې او د ښار دروازه یې پرانستله او پر دښمن باندې ورغلل. نور نو د دوی په وړاندې درېدل ګران کار و.

محمد ولي خان سپهسالار، پولندي بروسکي، سالار سرخوش خان افشار، شیر خان سرهنګ[1] نبي خان تره ګوزلو، خانلرخان، اسمعیل خان سرهنګ، محمد ولیخان سرهنګ، مهدي قلیخان سرهنګ او باقر خان د سواره نظام قوماندان د دښمن له یوه زر کسیز غونډ سره د جګړې په ډګر باندې ووژل شول امیر بهادر جنګ سکندرخان قاجار، محب علي خان سالار، محمد علي خان سالار، محمد خان له خپل لښکر سره وتښتېدل، جعفر خان قره چورلو، عبدالله خان یاور، رشید خان سرهنګ، عبدالحسین بېګ یاور، علي مردان خان سرهنګ ټپیان شول. د ایران پوځ جبه خانه وسوځول شوه، په دې توګه وروسته ترلسو میاشتو او شپږو ورځو د ایراني اردو او پاچا زړونه او لاسونه مات شول. دا مهال انګرېزي سمندري ځواک د ایران اوبو ته راغی او د خارك ټاپو یې ونیو. محمد شاه خپل ځواکونه ټول په افغانستان کې له لاسه ورکړي وو، نو په ناهیلۍ سره ناکام له هرات څخه ستون شو، خود بېرته تګ پر مهال یې په لاره کې ټول کلي لوټ او ویجاړ کړل.

په هر حال د ایران د دولت ځواکونو په ماتې سره د افغانستان خلکو د خپل هېواد خپلواکي یو ځل بیا د یوه لوی کړکېچ په ترڅ کې وساتله او د هرات دفاع په منځنۍ آسیا کې د یوه لوی نظامي شهکار په توګه وځلېده. دا هغه داستان دی چې انګرېزي لیکوال غوښتلي چې هغه د خپلو عمالو لکه د پاتنجر او نورو لپاره له هغه څخه یوه افسانه جوړه او وربانده وویاړي، په داسې حال کې چې ټول او آن د افغانستان دښمنان هم پوهېږي چې پاتنجر او مکنیل په هرات کې په تش لاس په پوچو الفاظو لوبه کوله. دا د افغانستان مېړني خلك وو. چې پرغلګر یې د هغوی له ټول ځواك سره مات او وشاړه، که نه همدا پاتنجر او د هغه نور ملګري وو چې دې پسې وروسته بیا له انګرېزي پوځ سره یو ځای افغانستان ته راغلل، یرغلونه یې وکړل او بیا له ماتې سره مخامخ شول او همدغه پاتنجر بیا د جګړې په ترڅ کې د افغانانو په لاس اسیر او وینول شو. نو باید پوښتنه وشي چې آیا هغه مهال چا له بهر څخه افغانان د انګرېزانو په وړاندې هڅول؟ هیچا!

هغه ډېر رېښتونی انګرېز چې د هرات دفاع او د دغې جګړې په هکله یې لیکنه کړې وه هغه دوك ولینګتن و. همده د افغان ــ انګرېز د لومړۍ جګړې په هکله په یوه لیکنه کې لیکلي او هغه یې طبع کړې:

«د هندوستان د ګورنر جنرال او پارلمنت له راپورونو څخه ښکاري چې له افغانانو سره جګړه یو ډېر خطرناك او اوږد کار دی، پنځوس زره لښکر او غټې غټې ستې یوه بې اوبو او بې وښو ولایت ته ور روان دي، خو له هیڅ دود-دستور څخه خبر نه دي، د هغه ولایت خلك زړور او جنګلیالي دي دغه ولایت د انګرېزانو له پولو څخه یې زر او پنځه سوه میله لرې دی.... شاه شجاع چې له افغانستان څخه شړل

---

[1] - سرهنګ د ایراني پوځ یوه عسکري رتبه وه چې د شخص له نوم سره ویل او لیکل کېده.(ژ.)

Scanned by CamScanner

کاله زمونږ مواجب خور دی. ددې وړتیا نه لري چې د دوست محمد خان پر خای چې د هرې دی او دېرش افغانستان یو عاقل پاچا دی. کښېني، هغه له سوداګرو څخه په سلو تومانو کې دوه نیم اخلي او کابل ته یې ښه نظم راوستی دی. افغانان ډېر پیاوړي خلك دي چې په جګړه کې ډېر زړور دی. د انګرېزانو وزیر مختار لیکلي دي چې د ایران پاچا هرات کلابند کړی دی. د هغه لښکر تر اوسه پورې درې خله د هرات پر دېوال خپل توغ لګولی دی خو افغانانو په توره او آن په تش لاس مقابله کړې او ایرانیان یې نه دي پرېښي چې ښار ته ننوځي. کوم لښکر چې مونږ لېږلی زیاتره د هندوستان دی. خو افغانان هندوستانیان د جګړې سړي نه ګڼي او ټوکې وربانديې کوي. په دې کې هغه دېوال چې مونږ جوړ کړی و هغه یې ویجاړ کړ، ډېر کلك سنګر زمونږ او د ختیځ تر منځ دی....)[1]

البته دوی له دغه لیك څخه وروسته ډېر ژر ولیدل چې د بریتانیا دولت د دغه ډول خلکو له فتح کولو او ددې ډول سنګر له نیولو عاجز او ناتوان دي

کله چې ایراني ځواکونه له هرات څخه وځغلول شول، وزیر یار محمد خان د شا وخوا سیمو ټولو ځمکوالو او سوداګرو ته ولیکل چې له کاختي څخه د خلکو د ژغورلو لپاره باید زیاته اندازه غله او حبوبات هرات ته وارد کړي او د غلې په وارداتو یې مالیات هم لري کړل. سره له دې چې وروسته تر هغه ښه پوره زیاته غله وارده شوه، خو هغو بېوزلو خلکو چې د غلې د پېرېدلو لپاره هیڅ هم نه لرل هغوی له مجبوریت څخه خپل ماشومان د مرئیانو په سوداګرو وپلورل چې د هغو په پیسو باندې یې غله وپېرودله. همدارنګه وزیر یار محمد خان اړ و چې د هرات د بیا ودانولو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړي او د جګړې ویجاړتیاوې بېرته ورغوي حال دا چې دغه جګړه د ایرانیانو په ګټه نه وه. د افغانستان د خلکو په زیان تمامه شوه. کومه ګټه چې په دغه ډول جګړو کې وه هغه ټولو د انګرېزانو او روسانو ته رسېدله. افغانستان د ابدالي دولت له تاسیس څخه وروسته یعني د اتلسمې پېړۍ له شروع څخه تل له ایران سره دوستانه او ناپېیلی سیاست په مخه کې نیولی و. احمد شاه بابا، تیمور شاه او نه هم زمانشاه یوه هم د هغو ګډوډیو سره سره چې په ایران کې وې او د هغه هېواد نیول یې دوی ته ډېر آسانه کړي و، هیڅکله هم د ایران په کورنیو چارو کې لاسوهنه ونه کړه او نه یې په دغه هېواد کوم یرغل وکړ، خو د ایران قاجاري دولت چې د ښکېلاکګرو او استعماري ځواك تر اغېزې لاندې و، په پرله پسې ډول یې د افغانستان په کورنیو چارو کې نظامي لاسوهني کولې خو ټولې یې بې نتېجې وې. د بېلګې په توګه د نولسمې پېړۍ په پیل کې یې چې خراسان ونیو وروسته تر هغه یې د نولسمې پېړۍ تر نیمایي پورې یعني د پنځو سو کالو په ترځ کې (١٨٠٢ - ١٨٥٢) یې اته ځله پر هرات نظامي تېری وکړ چې په لاندې توګه و:

په ١٨٠٢ کې چې کله شهزاده فیروزالدین ابدالي د هرات حاکم و د مشهد حاکم محمد ولي مرزا د محمد خان قجر په مشرۍ یو لښکر د غوریانو د کلا د نیولو په موخه راولېږ، خو له جګړې وروسته یې د سل زره روپیو، سلو شالونو او یوه پیل په اخیستو سره روغه وکړه او بېرته ستون شو، خو غوریان د ایرانیانو په ولکه کې پاتې شو. له هغه وروسته د ایران او هرات تر منځ استازي لاړل-راغلل. ملك حسین

---
[1] - تاریخ روابط ایران و انګلیس در قرن نزدهم، د محمود محمود اثر، دوهم ټوك، د تهران چاپ ۲۹۷ مخ

ابدالي تهران ته ورغی او اسمعیل دامغاني هرات ته راغی. وروسته تر هغه حاجي آغا له هرات څخه ایران ته ولاړ او مرزا صادق له ایران څخه هرات ته راغی او مرزا عبدالکریم له مشهد څخه هرات ته راغی او بېرته ستون شو. خو بیا هم فیروزالدین دغه روابط خراب نه کړل او د غوریان کلا د بېرته نیولو لپاره یې نظامي اقدام ونه کړ او نه یې د جام او باخرز د بېرته نیولو لپاره جګړه وکړه، خو کله چې د محمد خان قاجار په مشري پوځ راغی نو اړ شو چې هغوی په نظامي قوت مات کړي. په ۱۸۱۲ کال کې یو ځل بیا د مشهد والي حسن علي مرزا په هرات باندې نظامي یرغل وکړ خو بې له کومې پرېکندې پایلې څخه ماتې سره مخامخ او روغه-جوړه یې وکړه او بېرته ستون شو چې د بېرته ستنېدو پر مهال هزاره ګانو او هراتیانو ښه پوره لښکریان ورته ور ووژل. حسن علي یو ځل بیا په ۱۸۲۰ کې په هرات باندې یرغل وکړ خو روغه یې وکړه او بیا بېرته ستون شو.

په ۱۸۲۵ کې کله چې د شهزاده شاه محمود او د هغه د زوی شهزاده کامران تر منځ شخړه پېښه شوه، حسن علي له ځوی سره د مرستې په نوم د هغه د پلار په وړاندې لښکري راوویستې، خو هغه مهال پورې شاه محمود د خپل زوی له لاسه ماتې سره مخامخ شوی و، سره له هغه هم حسن علي خپل زوی (اروغور خان) له عسکري کندکونو سره یو ځای په هرات کې له شهزاده کامران سره پرېښودل او په خپله بېرته ایران ته ستون شو. په ۱۸۲۹ کې شاه محمود مړ شو او شهزاده کامران خپلواک شو او ارغون یې بېرته ایران ته واستاوه. په ۱۸۳۰ کې وزیر یار محمد خان د شهزاده کامران په استازیتوب د ایران ولیعهد عباس مرزا ته مشهد ته ورغی، خو عباس هغه بندي کړ. په ۱۸۳۲ کې محمد میرزا قاجار له مشهد څخه پر هرات باندې پوځي یرغل وکړ، شهزاده کامران د هغه په وړاندې ودرېد او دفاع یې وکړه. دا مهال ولیعهد په مشهد کې مړ شو او محمد مرزا سوله وکړه او وزیر یار محمد خان یې راخوشې کړ. په ۱۸۵۰ کې د وزیر یار محمد خان له مړینې وروسته چې خلکو د هغه زوی سعید محمد خان نه غوښت، ایران د وزیر له ځوی سره د مرستې په نوم د سام خان او عباس قلي تر مشرۍ لاندې پوځ راوستاو، خو دغه پوځ بې له کوم بریالیتوب څخه بېرته ایران ته ورستون شو. پر هرات باندې د ایران وروستي یرغلونه په ۱۸۵۲ کې وشول چې بهانه یې د وزیر د ځوی محمد سعید د کسات اخیستل و، خو دا مهال انګرېزي ځواکونو بوشهر، محمره او خارك له ایرانیانو څخه ونیول نو ځکه ایراني ځواکونه له هرات څخه ووتل. د هغه تړون په ترځ کې چې ایران په ۱۸۵۷ کې انګرېزانو سره د دریم ناپلیون په اشاره وکړ، د هغه له مخې ایران اړ شو چې پر هرات کوم برید ونه کړي.

کله چې په ۱۸۳۹ کې افغانستان د لومړي ځل لپاره د انګرېزي ځواکونو تر حملې لاندې راغی وزیر یار محمد خان، د هرات د ساتنې لپاره د هرات د چارو واك په خپل لاس کې واخیست، شهزاده کامران چې مقاومت کاوه هغه یې لومړی بندي کړ او بیا یې مړ کړ، دا ځکه چې هغه احساس کړه چې د کامران تره شاه شجاع له انګرېزانو سره روغه جوړه کړې او هېواد یې ورسپارلی دی، نو په دې توګه د ابدالیانو وروستی حکومت د هیواد په شمال لوېدیځ کې له منځه ولاړ او درې کاله وروسته له هغه د شاه شجاع په وژل کېدو او د هغه د زامنو په را پرځېدو سره د افغانستان ابدالي دولت په ټول هېواد کې بېخي له

منځه ولاړ، خو وزیر یار محمد خان په ۱۸۴۰ کې په عسکري خواك سره د غوریانو کلا له ایرانیانو څخه بېرته ونیوله او دې پسې یې بیا هزاره او میمنه هرات ته د مالیې په ورکولو اړ کړل په ۱۸۴۱ کې یې د مکناټن سیاسي استازی میجر ناد (چې لا مخکې د یوه تړون د لاسلیك کولو په خاطر کامران ته راغلی و او خان یې د انګرېزانو پولیټیکل اجنټ باله) له هرات څخه وایست. ناد په ایران کې د توپچي بر افسر و او په دري ژبه باندې پوهېد. کله چې له هرات څخه وشړل شو، مکناټن هغه په سیاسي چارو کې له لاسوهلو څخه منع کړ او بېرته یې په توپچي کې دنده ورکړه. په ۱۸۴۷ م کال کې کله چې حسن خان او جعفر خان په مشهد او سرخس کې د ناصر الدین شاه قاجار د حاکم حمزه مرزا په ضد را پاڅېدل او حمزه مرزا له وزیر څخه مرسته وغوښته. وزیر د ښه ګاونډیتوب د اړیکو د ساتلو په خاطر مشهد ته پوځ ور واستاو او حمزه یې د هغه د مخالفینو له منګولو څخه وژغوره او هرات ته یې راوست او درې میاشتې یې ځان سره وساته تر څو چې مراد مرزا له تهران څخه راغی او د خراسان چارې یې سمبال کړې او د ایران واك یې ورپاندې ډاډمن کړ، بیا نو هغه مهال وزیر. حمزه مرزا مشهد ته واستاو، ناصرالدین شاه څلور توپونه او د (ظهیرالدوله) اعزازي نښان ورته د سوغات په توګه وزیر یار محمد خان ته راولېږل. په ۱۸۵۰ کال کې د کندهار سرداران د وزیر یارمحمد خان په ضد پاڅېدل او سردار شیر علیخان کندهاري چې د سردار مهردل خان زوی و تر (لاش) پورې ورسېد، د سردار کوندل خان زوی سردار محمد صدیق خان کندهاری تر چخانسور پورې سیمې ونیولې او په خپله لوی سرداران تر ګرشك پورې راورسېدل وزیر یار محمد خان پوځ چمتو کړ سردار شیر غلیخان یې له لاش څخه په شا وخغلاو او احمد خان اسحق زي ته یې هم ماته ورکړه، خو په خپله لوی سرداران یې په لیکلې توګه هلته ورو بلل، خو وزیر ناروغ شو او د هرات پر لاره د میر د پړاو په سیمه کې په ۱۲۶۷ هـ (۱۸۵۰ م) کې وفات او په هرات کې د جامي د مقبرې تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

د وزیر زوی سعید محمد خان چې د لاش وجوین حاکم و، هرات ته راغی او د پلار پر ځای کښېناست، خو هغه لږ څه مخبوط الحواس سړی و او خلکو چندان د حکومت کولو وړ نه باله، نو ځکه یې له کندهار څخه سردار کهندل خان (سردار کوندل خان) راوباله. سردار راغی او فراه او اسفزار یې ونیول او هرات ته نږدې، خو ایران لاسوهنه وکړه او د مرستې په نوم یې د وزیر د زوی په پلویتوب پوځونه راولېږل. د کندهار سردارانو چې له ایران سره یې د یووالي خبري کولې، پرته له مقابلې له هرات څخه کندهار ته راستانه شول او سعید محمد خان ایراني مرستندویه پوځ بېرته رخصت کړ، خو خلکو هغه نه غوښت، نو ځکه نایب عیسی خان هراتي یو ابدالي شهزاده (یوسف بن قاسم بن فیروزالدین) چې په مشهد کې میشت و راوغوښت. هغه په ۱۸۵۵ کې هرات راغی او حاکم شو. سعید محمد خان اعدام شو، خو ایران یو ځل بیا د هغه د کسات تر نامه لاندې په هرات پوځ راوست. نائب عیسی خان په دې وار باندې له امیر دوست محمد خان څخه مرسته وغوښته، خو امیر ونه منله او لکه د خپلو کندهاري ورونو په شان یې لپاره د ایران د پوځ مخې ته واستاو، خو د ایراني پوځ قوماندان مراد مرزا دغه شهزاده مرکز او د هرات لپاره د ایران سره له مخامخ کېدو وساته. بله لاره نه وه، نایب عیسی خان شهزاده یوسف دروغي-جوړې

د ښار کلابندي یې نوره هم ټینګه کړه. نایب عیسي خان چې بې زړه شو د دښمن پوځ ته ورغی، خان یې ورته تسلیم کړ او مراد مرزا هغه هم په غداری سره وواژه او په خپله هرات ته راننوتل. خو کله یې چې واورېدل چې انګرېزي سمندري ځواکونو بو شهر ونیو، نو په بېړه بېرته ایران ته ستانه شول. د سردار محمد عظیم خان زوی سردار سلطان احمد خان چې د افغان او انګلیس له لومړۍ جګړې څخه وروسته له خپل تره او خسر (امیر دوست محمد خان) څخه مرور شوی و او ایران ته تللی و او هلته مېشت شوی و. د ایران د حکومت په خوښه افغانستان ته راغی او د هرات چارې یې ترلاسه کړې (۱۸۵۶) او نو موړی بیا تر ۱۸۶۲ پورې د هرات د حاکم په توګه پاتې شو. امیر دوست محمد خان داسي یو څه نه غوښتل، نو ځکه یې د فراه حاکم سردار محمد شریف خان ته امر وکړ چې پر هرات یرغل وکړي. هغه غور او ساغر ونیول. سردار سلطان احمد خان په ۱۸۶۱ د فراه په لوري پوځونه ورواستل او هغه ولایت یې ونیو، دا خل په خپله امیر دوست محمد خان له پوځ سره ورغی. سلطان احمد خان بېرته هرات ته ستون شو او خان یې کلابند کړ. امیر دوست محمد خان ۱۲۷۹ھ (۱۸۶۲) څخه د هرات کلابندي پیل کړه. د هرات جګړې اته میاشتې روانې وې. ددغو جګړې په ترڅ کې اول د سردار ښځه (چې د امیر دوست محمد خان لور وه) مړه شوه او بیا وروسته په خپله هم مړ شو. د دواړو د مړینې په ورځ په ګازرګاه کې ښخ ښخ کې دفن وشوه. د خپلو د چارو له پای ته رسېدلو څخه وروسته، بیا له سره د سردار سلطان احمد خان د زوی سردار شهنواز خان او امیر دوست محمد خان تر منځ جګړه پیل شوه. خو په پای کې امیر دوست محمد خان ښار ونیو او شهنواز خان یې بندي کړ.

## د ابدالي دولت په دوره کې د افغانستان ټولنیز وضعیت

د احمد شاه او تیمور شاه په ۴۵ کلنه دوره کې د هیواد دننه امنیت په اندولیز ډول ښه و. چې دغه ښه والی وروسته تر یوې اوږدې مودې ویش. تجزیې او کړکېچ څخه ددې لامل شو چې بېرته په افغانستان کې یو سراسري دولت جوړ او اقتصادي مرکزیت را منځته شي. نو ځکه ورو ورو کرنیزې او سوداګریزې چارې لږ څه ښې شوې سره له دې چې دولت د هغو په پرمختګ کې ډېره ونډه نه لرله (دا ځکه چې زیاتره په کورني او بهرني سیاست بوخت و) خو بیا هم په اداري مرکزیت او د امنیت راوستلو سره یې د بېلابېلو سیمو تر منځ د لارو حالت ښه کړ او سوداګرۍ دوام شوه او له هند څخه تر منځنۍ آسیا او ایران پورې پر مخ ولاړه. ښارونو لږ خلا وموندله. سیمه ییز او لاسي صنایع هم پر مخ ولاړل او کرنې خپل حالت بیاموند. جوماتونه او مدرسې په ښارونو کې بیا د قدیمي علومو په تدریس بوختې شوې. خو فرهنګ د خپل بیا ژوندي کېدو په ترڅ کې فقط هماغه د کړکېچ د دوران یو یادګار و. خو په نورو بهرنیو هېوادو کې فرهنګ. ادبیات. صنایع. ښکلي هنرونه او نورو څانګو د صنعتي کشفیاتو برېښنا. د بخار ماشین او چاپخونو د پیدا کېدو سره یو ځای بېخي نوې بڼه موندلې وه او د بشریت ژوند ته یې بدلون ورکړی و او زړه پخوانۍ نړۍ یې په یوه نوې بدله کړې وه. له دې ټولو سره سره په افغانستان کې هماغه د منځنیو پېړیو زوړ فرهنګ هم د پرمختیا فرصت پیدا نه کړ. کله چې د زمانشاه د

Scanned by CamScanner

سلطنت په دوره کې د هېواد دننه د فیوډالي جګړو اور ولګېد. د ابدالي دولت تر نړېدو پورې کوم بل نوی ګام د افغانستان د فرهنګي او اقتصادي پرمختیا په برخه کې اوچت نشو. د هېواد بزګرانو ملا چې له فیوډالانو تر خېټناک لاندې ماته شوې وه، د دغو فیوډالي سیالیو او بهرنیو یرغلونو له امله نوره هم بېدرېغه وځپل شول. دا یوازې نه، د ابدالیانو د ځای ناستو پر مهال د افغانستان ټول سیاسي موسسات ویجاړ شوي وو او یوې ناولې ملوك الطوایفي په ټول هېواد وزر غوړولی و. نو ځکه د هېواد اقتصادي، فرهنګي او سیاسي ټولې برخې مخ په ځوړ وې. څه چې له پخوا څخه پاتې وو هغه هم له منځه ولاړل. دغه مخ په ځوړ تګ او شاته غورځېدل نه یوازې دا چې د نولسمې پېړۍ افغانستان له نوې او مترقي اروپا څخه ډېر وروسته پاتې کړ بلکې له نورو آسیایي هېوادو څخه یې هم ډېر شاته واچاوه په شلمه پېړۍ کې ایله افغانستان د وروسته پاتې هېوادو په یوه بېلګه کې وشمېرل شو.

Scanned by CamScanner

## دوهم

# په افغانستان کې د انګرېز دولت سیاست

### انګلیس

انګلستان چې یو سوړ هېواد دی او لمدبل پکي اوچت دی، د خلکو اړتیاوي ډېري زیاتي او د معیشت تنګي ډېره وه. دغه هېواد ته لومړی سلت طایفه او بیا وروسته جرمنان او بیا سکاندناویان ورغلل. دغه هېواد د وسپني او د ډېرو د سکرو کانونه لرل.

خلکو یې تر پنځلسمي پېړۍ پورې د نورو هېوادو بېړۍ په سمندرونو کې لوټ کولې، ورو ورو یې سوداګري وپېژندله او په صنعت یې پیل وکړ. انګرېزان زیاتره ریالست او د عمل کولو خلك دي، سوړ او غمجن طبیعت لري. لکه څرنګه چې اروپایي اروپوهانو لیکلي دي:

د انګلیس موخه (خیر ښېګڼه) نه بلکې (حقیقت) دی. خو البته حقیقت دغو اروپوهانو د ګټورتوب په معني راوستی، یعني هغه څه چې ورته ګټور وي. انګرېزانو په (قوت او قدرت) زړه ورکړی او لویه موخه یې د لازیاتې ګټې په خاطر کار کول او تشبث دی، څکه چې دوی ژونده لوبه نه، بلکې جدي حسابوي او د طبیعت او چاپېریال د ستونزو په وړاندي مجادله کوي، خو د بریالیتوب د تر لاسه کولو، د شتمنیو د ګټلو لپاره د عمل شدت دوی ضعفاً او فقراً سپکاوي ته اړ باسي.

د انفراد پرستۍ (اندویدیالیزم) روح د نورو په پرتله انګرېزانو کې سوړ مزاجه دی او دوی کبرجن ښکاره کوي. څومره چې د انګلستان خلك په خپله په خپل هېواد دننه یو بل سره په مرسته او ټولنیز ګډ ژوند کې خواخوږي دي او په داخل د هېواد کې باناموسه او شریف دي، هغومره ددې برخلاف د دوی حاکمه طبقه په نړیوالو مناسباتو کې ظالم، کلك زړي، غولوونکي او بې وفا دي.

د انګرېزانو دولت کله هم نه دی اړ شوی چې د خپل ټاپو د ساتنې په خاطر تورې ته لاس اوږد کړي، دا څکه چې د سمندري او بو هغه پټاره چې دوی یې ایسار کړي دي، د هر دښمن لاس له دوی څخه لنډ کړی دی، نو په نړیوالو جګړو کې د دوی ګډون د کومي اړتیا او دفاع له مخي نه و، بلکې د دوی د حرص، د نړۍ نیولو د هیلو او د ګټود تر لاسه کولو په موخه و، دا څکه چې بیوزلي او د شتمني نه لرل د دوی لپاره لکه د جنایت اوسپکوالي په شان بربښي، نو د شتمنیو د تر لاسه کولو لپاره ظلم او دوکه روا ګڼي.

د صنعت او سوداګري ترقي د انګلیسي دولت د نورو ملتونو د نیولو او ښکېلاك په لوري بوت انګرېزانو له اتلسمي پېړۍ څخه وروسته په آسیا، افریقا، امریکا، آسترالیا او نور ټاپوګانو باندې تېری کول پیل کړل او د ښکېلاك او څېښناك په لاره کې یې له اعتدال څخه تېری وکړ، میلیونونه وګړي یې مړئي، خوار او ناتوانه کړل. د ملکې الیزابت په وخت کې ویل کېدل چې: ایرلینډیان باید له لوږي څخه مړه شي. د همدغې عقیدې او فکر په بنسټ یې په کاناډا کې سره پوستي ټول ووژل او هندوستان

بې لوړ کړ. د انګلستان پارلمان چې د اروپا د پارلمانونو مور ده. هغه مهال چې د سکندریې ښار د دوی دهېواد تر بمباري لاندې راغلی و، یا کله هم چې د کابل بازار او ارګ ته د دوی له خوا اور واچول شو. لکه د اختر د ورځي په شان یې خوښي کوله. البته فردي خپلواکي، حکومتي غښتلتیا، صنعتي او سوداګریزه ترقي، علمي، فلسفي، هنري او ادبي پرمختګ یې په نړۍ کې نوم لري. د انګرېزانو فلسفه د تجربې او څېړني پر بنسټ بشپړه شوې ده. په زړه پورې ادبیات یې ډېر کره او ژور دي، خو له دې سره سره د انګرېزانو د دولت حاکمه طبقات په هغو ارزښتونو کې چې د ټولې نړۍ خلکو ته اوچت ارزښت لري دوی په کې ډېر ټیټ او وروسته پاتې دي.

## تاریخ

له مېلاد څخه اوه پېړۍ مخکې کله چې د اوستا کتاب خلك د تمدن، د کرنې پرمختګ او د ښارونو ابادولو او د ظلم او شر په ضد رهنمايي کول، په انګلستان کې ایله په ایله ګال او برتین طایفه (سلت ګړي) له لوېدیزې اروپا څخه ځای پر ځای شول. په دوی کې وحشت و او د پخوانیو وحشي خلکو ځای یې ونیو او ورو ورو یې په څاروی روزنه او بیا یې په سوداګرۍ پیل وکړ. په لومړۍ پېړۍ کې چې کله په افغانستان کې د کوشانیانو یو ځواکمن دولت رامنځته شو، جنوبي بېرېتانیا د کلاديوش سزار د ځواکونو په لاس (د جولیوس سزار په یرغل پسې وروسته) د روم د امپراتورۍ په یوه ایالت بدله شوه او درې نیم پېړۍ نوره هم د روم تابع وه. په پینځمه پېړۍ کې د (وای کنګ) وحشي قبایلو او په دې لړ کې انګل او ساکسون قبایل د شمالي سمندر له سواحلو انګلستان ته ورغلل او وروسته یې بیا (نارمن) طوایف له ناروې او دنمارك څخه او اسکات له اسپانیا څخه ورغلل په دې توګه په دغه ټاپو کې د انګرېز ملت ور څخه جوړ شو.

په یوولسمه پېړۍ کې انګلستان په کورنیو جګړو کې ښکېل شو تر څو چې دریم ریچارډ پاچا شو. د څلورم ادوارد په دوران کې د لومړي ځل لپاره په انګلستان کې مطبعه جوړه شوه او د پنځلسمې پېړۍ په پای کې د انګرېزانو بیرغ د نیو فوندلند په ټاپو کې اوچت شو، همدا د انګرېزانو د امپراتورۍ د جوړېدو لومړنی ګام و. د اتم هانرې پر مهال د انګرېزانو کلیسا د روم له کلیسا څخه جلا او په مذهبي جګړو کې ډېرې وینې وبهېدې ملکې مارې ډېر پروتستانت مذهبه ووژل او ملکې الیزابتې د اسکاتلند ملکه یعنې خپله ناسکه خور ملکه مارې هم ووژله، خو د انګرېزانو سمندري ځواك د اسپانیا سمندري ځواك ته ماتې ورکړه او په سمندرونو کې یې د خپل پرمختګ لاره پرانسته. د شپږم جیمز پر مهال د انګلېند او سکاتلند سلطنت یو ځای شو او د لویې برېتانیا او آیرلند د پاچاهۍ په بڼه رامنځته شو. په امریکې کې د تنښتېدلو انګرېزانو کالوني جوړه شوه. لومړی چارلس پارلمان ړنګ کړ او د خپلو مخالفانو په حق کې یې له وحشت څخه ډك چلند پیل کړ، په دې توګه کورنی اووه کلن جنګونه پیل شول. د انګلستان د پاچا په سپاهیانو کې اشراف او روحانیون وو او د پارلمان په لښکر کې سوداګر او فتیوال ورګه وو. کروموېل چې کوچنی اشراف و، د وګړنیز لښکر په سر کې وو او دوی د پاچا لښکر

ته ماتې ورکړه. سره له دې چې پاچا تسلیم شو، خو بیا هم اعدام شو. کروموېل پخوانی پارلمان ړنګ او یو نوی اساسي قانون یې جوړ کړ او په خپله د ژوند تر وروستیو شپېو پورې په واک کې و. دا هماغه ستره پېښه وه چې د کورنۍ جګړې نوم ورکړل شو. حال دا چې دا یو بورژوازي انقلاب و. په ۱۶۶۰ کې دوهم چارلس پاچا شو او د خپل پلار په کسات اخیستو کې یې خلك وکړول، په وحشیانه ډول یې وځورول او ډېر یې اعدام کړل او د خپلو خلکو په ضد یې د فرانسې له پاچا څوارلسم لویي سره پټ ترونونه وکړل. د همده په دوره کې مخالفین په دوو ډلو ووېشل شول. یوه ډله (ویګ) او بله یې (یوري) په پای کې د چارلس ورور د جیمز په نوم پاچا شو. مخالفینو د هالند له پاچا ویلیام څخه مرسته وغوښته، هغه له خپل لښکر سره راغی او انګلستان یې ونیو او په خپله پاچا شو، جیمز فرانسې ته وتښتېد او اولادونه یې د فرانس د لاس وسیله شول او د انګلستان پر ضد ودرېدل. ویلیام یو کنوانسیون جوړ کړ او فیصله یې وکړه چې د سولې په حالت کې د پوځ واك، مالیه ټولول، د قانون تصویبول او د پارلمان د غړو ټاکل ټول د پارلمان واکونه دي. دا هم یوه بورژوازي کودتا او له پورته خوا څخه مخ ښکته خوا ته یو ډول ریفورم (اصلاحات) و، چې دې ته یې بې له ویني بهېدو څخه د انقلاب نوم ورکړ. انګرېزي دولت د لومړي جیمز له مهال څخه بیا د کروموېل تر دوران پورې په ویرجینیا، نیو انګلنډ، بارباډوس او جیمیکا کې کالوني ګاني جوړي کړې. همدا مهال انګرېزانو په کاناډا او شمالي امریکا کې له فرانسې سره او په هند کې له پرتګال سره مقابله وکړه. انګرېزي دولت د (ان) ملکې له دوران څخه بیا د (واټرلو) تر جګړو پورې په اروپا او امریکا کې شپږ لوی لوی جنګونه وکړل. یعنې د اتلسمي پېړۍ په ترڅ کې انګلیسي دولت د بېلا بېلو جګړو په ترڅ کې خپله امپراتوري پراخه کړه او ورسره یو ځای دغه پېښي هم پر مخ رواني وې: د اسپانیا او استریا د تخت بدلېدل، د امریکې خپلواکۍ بښونکي جګړونه او د انقلابي فرانسې جنګ. په دې ترڅ کې انګرېزانو جبل الطارق، دهایتي ټاپو، نیوزیلانډ او آسترلیا هم ونیول. په انګلستان کې وروسته تر ملکې څخه یو جرمني شهزاده د لومړي جارج په نوم د انګلستان پاچا شو چې په انګرېزي ژبه باندې نه پوهېد، نو ځکه دولتي چارې د وزیرانو او یوه صدراعظم په لاس کې وې. د دریم جارج په دوران کې د نړۍ یوه لویه تاریخي پېښه یعنې د انګلستان د صنعتي انقلاب پراختیا او وده تر سترګو شوه: د نساجي ماشینونه جوړ شول، د بخار ماشین اختراع شو، د اوسپنې او د ډبرو د سکرو کانونو پراختیا وموندله او ګڼ شمېر فابریکې جوړې شوې، خو لکه د غذایي توکیو په شان صنعتي خام توکي هم په انګلستان کې دننه نه پیدا کېدل نو ځکه انګرېزانو استعماري پراختیا غوښتني باندې پیل وکړ. د همدې پېړۍ په پای کې ایرلنډ پاخون وکړ، خو وټکول شو. د نولسمې پېړۍ په پیل کې د آیرلنډ پارلمان ړنګ او د انګلنډ، سکاټلنډ او آیرلنډ یو والي جوړ شو. د کروموېل له مهال څخه را وروسته په ایرلنډ کې ځمکې انګرېزي پروتستانو ته ورکړل شوې او د ایرلنډ بې ځمکو کاتولیکانو بزګري کوله، دا په داسې حال کې چې د دوی خوراکه یوازې د کرم پانې او پټاټې وې او که چېرې د پټاټو ناروغي به پیدا شوه ټول به له لوږې مړه کېدل. د بېلګې په توګه په ۱۸۴۲ کې ډېر خلك له لوږې مړه شول. انګرېزي ځمکوالو به هر کال پنځوس زره تنه کروندګر له

Scanned by CamScanner

کار ځنه شول. تر څو چې بېوزلو خلکو د دوی د ظلم پـه غبرګون کې پاڅون وکړ او د لویو ځمکوالو ودانیو ته یې اور واچاو او څاروي یې ور ووژل. خو دا یواځې نه. بلکې له دې سره یو ځای یو پټ ګوند (فونیکس)[1] ګوند را منځته شو او د خپل بایکاټ (بریکون) د اصولو له امله یې انګلیسي ځمکوال له ویرې او ګواښ سره مخامخ کړل. تر څو چې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د (هوم رول)[2] په نوم یو قانون جوړ شو او د ایرلنډ ستونزې یې یو څه هوارې کړې. په همدې پېړۍ کې د انګلستان دولت ابدالي زمانشاه ته د سیاست په ډګر کې او ناپلیون ته د جګړې په ډګر کې ماتې ورکړه او په خپله د نړۍ د ځواکمن هېواد په بڼه راڅرګند شو. خو په وړاندې یې د انګلستان خلك له بېساري بېوزلي سره مخامخ شول کارګرانو پاڅونونه وکړل او ماشینونه او فابریکې یې ویجاړې کړې. د انګلستان پارلمان لکه د پخوا په شان د لویو سوداګرو او لویو ځمکوالو د طبقې د ګټو یوه وسیله وه. ډېر لږ شمېر خلکو د رای ورکولو حق درلود. چې هغه هم په پیسو پېرودل کېدې. (لارد جان رسل) د هېواد په اداره کې د خلکو د ګډون د حق درلودلو په هکله یوه ریفورمي لایحه پارلمان ته وړاندې کړه. د مشرانو جرګې ونه منله خلکو پاڅون وکړ. نو ځکه لاردان اړ شول چې هغه په ۱۸۳۲ کال کې ومنې. له دې وروسته په پارلمان کې پانګوالو زیات نفوذ او واك وموند. پارلمان ورو ورو اصلاح شو او د مرئیانو د آزادۍ قانون ومنل شو په همدې کلونو کې په انګلستان کې بربښنایي تلګرام په کار پیل وکړ او وروسته بیا ټلیفون جوړ شو د ملکې ویکتوریا په دوره کې (۱۸۳۷ – ۱۹۰۱) په انګلستان کې د اوسپنې پټلۍ وغځول شوه. او ورسره د امپراطورۍ د ښکېلاك کړۍ هم پراخه شوه. په همدغه دوره کې انګرېزانو له افغانانو سره جګړې وکړې او ناکام شول. خو هندوستان یې ټول ونیو. د هند ټول ملي پاڅونونه وځپل شول او مدافعوي ځواکونه یې وټکول شول همدا مهال د انګرېزانو د توري په سیوري کې او د وینو په تویولو سره د آسترلیا کامنولت، د کاناډا دومینون. د نیزیلنډ کلوني، د امید دماغه، د جنوبي افریقې مستعمره، ترانسوال، مصر او سوډان مستعمرات ښکېل شول. د نیوزیلنډ، مصر. سوډان او نورو سیمو په زړګونو مدافع ځواکونه او زړور مبارزه کوونکي له منځه یووړل شول ډېر بوئر له منځه ولاړل او ددغو سیمو ملي اتلان په ډېر وحشیانه ډول او په نامردانه طریقو سره وځپل شول. په خپله په انګلستان کې دننه هم د (چارتستانو) غورځنګ رامنځته شو چې په پارلمان کې یې د کارګرانو :رایې د حق غوښتنه کوله. په ایرلنډ کې بېساري کاختي راغله چې په زرګونو خلك یې له کومې تېر کړل (۱۸۴۵). په دې توګه ښکېلاك او ځبېښناك نه یواځې په ختیز کې بلکې په خپله په اروپا کې او د خپلو هېوادو دننه هم بې شمېره جنایتونه وکړل. دا مهال د انګرېزي دولت ښکېلاکګرو امپراتورۍ د پراخو مستعمراتو په لرلو سره د نړۍ ټول مهم بندرونه لکه جبل الطارق، مالتا، باب المندب، سویز کانال، عدن، سنګاپور او مالاګا په لاس کې لرل (د نړۍ لوی نور ښکېلاکګر فرانسه، جرمني او روسیه وو) او انګرېزان د هندوستان له لارې افغانستان سره مخامخ شول. د نولسمې پېړۍ په پای کې د انګرېزانو

---

۱: PHOENIX

۲: Home Role

Scanned by CamScanner

سوداګري د امریکي او جرمني له سیالي سره مخامخ او کاواکه شوه. په همدغه وخت کې د انګلستان کارګر ګوند رامنځته شو (۱۸۹۲). دغه ګوند په ۱۹۰۲ کال کې د عوامو په جرګه کې له پنځو سر څخه زیاتي څوکۍ وګټلې. په ۱۹۱۱ کې د کارګرو ماشومانو د ملاتړ قانون او په یوه ورځ کې د اتو ساعتونو د کار قانون رامنځته شول. په ۱۹۱۲ – ۱۹۱۳ کلونو کې د انګلستان د عوامو د جرګې له خوا د دولت لایحه چې په انتخاباتو کې یې د ښځو ونډې ته حق ورکاو، رد کړه. ښځو مظاهرې وکړې او ګڼ شمېر یې بندیاني شوې، خو دوی په زندان کې هم د ډوډۍ له خوړلو ډډه وکړه. دولت اړ شو چې د (پیشو – موږك)[1] قانون په جرګه کې ومني. یعني که یو بندي د خوراك نه کولو له امله ناروغ کېږد، نو له بند څخه به خلاص شو او که بیا به یې مخالفت کاو بیا به بندي کېدی. په ۱۹۱۴ کې لومړۍ نړیواله جګړه پیل شوه. چې په پای کې یې (۱۹۱۹) کې انګلستان د افغانستان له جګړې سره مخامخ شو. له دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته مستعمره او ښکېل شویو هېوادونو د استعمار، ځبېښاك او ښکېلاك په وړاندې وسله وال پاڅونونه وکړل. نو ځکه انګرېزان اړ شول چې خپل پخوانی استعماري سیاست پرېږدي.

## هندوستان

هندوستان یو لرغونی هېواد دی چې د آریائیانو له راتګ او پنځېدو مخکې یې هم د (دراویدي) تمدن درلود او تر اوسه پورې هم د کول او دراویدي له پښت څخه په میلونونو وګړې پکې ژوند کوي. د هند آریائیان له مېلاد څخه دوه زره کاله مخکې له افغانستان څخه هند ته ورغلل او هلته یې یوه طبقاتي ټولنه جوړه کړه. دوی په خارویو روزنه، کرنه او د کسب او کار او له فلزاتو څخه د استفادې په لارو چارو پوهېدل. د دوی د حماسي اشعارو (رامایانا او مهاباراتا) څرك هم تر مېلاد څخه یو زر کاله پخوا ته رسیږي. له مېلاد څخه درې پېړۍ وړاندې سانسکرېټ او پراکرېټ ژبو د ویدي ژبې او د ویدي دورې د عقایدو ځای ونیو. په همدغه دوره کې هند د افغانستان له لورې تر بهرني واك لاندې راغی. له مېلاد څخه پنځه پېړۍ مخکې د هخامنشي داریوش ځواکونه او له مېلاد څخه څلور پېړۍ مخکې د سکندر ځواکونه او بیا د افغانستان یونانیان هند ته ننوتل. خو د سکندر له مړینې څخه وروسته په هندوستان کې د چندرا ګوپتا موریا دولت جوړ شو او د بودا دین رامنځته شو. دغه دین له مېلاد څخه مخکې له دریمې پېړۍ څخه نیولې بیا تر دریمې مېلادي پېړۍ پورې ژوندی و. آشوکا د همدغې دورې یو ډېر نامتو او ځواکمن موریایي پاچا و او کالیداس د همدغې دورې نامتو شاعر و. له لومړۍ مېلادي پېړۍ څخه نیولې بیا تر شپږمې مېلادي پېړۍ پورې بیا د افغانستان د دولتونو (کوشانیانو او یفتلیانو) د واك دوره پر هند باندې پیل شوه. له اتمې مېلادي پېړۍ څخه تر دولسمې مېلادي پېړۍ پورې د هندوییزم یوه نوې دوره وه چې برهمنیزم یې بلله او د (بورانیك) دین د بودیزم ځای ونیو. له سیاسي پلوه

---

[1] : cat and mouse

...یونان له شپږمې میلادي پېړۍ څخه راپدې خوا په مرکزي او شمالي هند کې پیاوړی و او د دولت ... کېنود (هارشا) د همدغې لړۍ یو نامتو پاچا و په لسمه پېړۍ کې د هند په تاریخ کې یوه نوي ... پېر انسټل شوه. دغه مهال د افغانستان دریم خل واك پر هند باندې پیل کېږي. البته کله چې هند له ... نوي واك سره مخامخ شو. خپل ځانګړی ماورالطبیعه ځانګړی فرهنګ او فلسفه یې درلوده. ... غزنوي دولت یو نیم سل کاله د هندوستان ډېره برخه نیولې وه. وروسته بیا غوري دولت او د افغانستان ... افغاني حکومتونو لړۍ لکه د قطبیه. خلجیه. تغلیقه. لودي. سوري او سید او نورو حکومتونو ... هند باندې واك درلود. د همدوی په دوره کې د افغانستان اسلامي فرهنګ او تمدن په هند کې ... غوړېد په همدغه دورو کې د ډیلي د قطب خلی چې ۲۴۰ فټه لوړوالی لري جوړ شو او د علاء الدین ... خلجي پر مهال جنوبي هندوستان پورې هم د اسلام دین ورسېد. او بهمنیانو دوه سوه کاله هلته ... حکومت وکړ. په هندوستان کې د فیروزشاه تغلق پر مهال ډېرې ودانۍ جوړې شوې او د سوري شیرشاه ... پر مهال د زاړه ډیلي ارګ او د اګرې لاره جوړه شوه. د امیر تیمور ګورګاني تر یرغل وروسته په هند کې ... سیدانو لړۍ هم یو دولت جوړ کړی و چې یو څه یې د هند له ګډوډ کېدو څخه مخنیوي کړې و. له ... شپاړسمې میلادي پېړۍ څخه تر اتلسمې پورې د افغاني دولتونو پر ځای هلته بابري دولت واك درلود. ... په دغه مهال کې هنر او فرهنګ وغوړېد او پراختیا یې وموندله. سره له دې چې بابریانو د افغانانو ... حکومت په هند کې ونړاو او په افغانستان یې هم ودانګل. خو په افغانستان کې له پښو ولوېد. خو ... ابدالي احمد شاه لکه د خراساني نادر شاه په شان په هند ورغی. خو هلته یې د هند د ضعیف بابري ... دولت له ژوندي پاتې کېدو سره مرسته وکړه. په دې توګه هندوستان یا لوی او پراخ هند د اته سوه کالو ... په ترځ کې د خپل لرغوني تمدن تر څنګ د ګاونډیو هېوادو تمدن (د اسلام په دوره کې) ته وده ورکړه او ... ډکرنې. اوبو لګولو. صنعت. سوداګرۍ. ښکلي هنر. ادبیاتو او ودانۍ جوړولو په برخه کې د ختیځ یو ... ستر هېواد ګرځېدلی و.

## په هند کې انګرېزان

اروپائیانو له ډېر پخوا څخه د هند محصولات لکه مرچ، وریجې، پومبه او نور په ډېره مینه له آسیايي کاروانونو څخه پېرودل. له مسلمانانو سره د اروپائیانو د جګړې له پیل کېدو څخه وروسته د وچې لارې اروپا ته بندې شوې. په پنځلسمه پېړۍ کې (واسکو داګاما) په سمندر کې مزل وکړ او د افریقې له وچې راتاو شو او د هند په کلکته کې له بېړۍ څخه راکوز شو. سل کاله نور د هندوستان سوداګري د پرتګالیانو لاس ته ولوېده. د دوی مرکز (ګوا) نومېد. وروسته وروسته بیا هالندیان، انګرېزان، فرانسویان او جرمنیان له هندوستان سره په سوداګرۍ کې ور ګډ شول. دغه سوداګري تر اولسمې پېړۍ پورې د هالندیانو په لاس کې وه او پرتګالیان یې له ډګر څخه ایستلي وو. خو انګرېزانو په ۱۶۰۰ م کال کې د شرق الهند کمپنۍ جوړه کړه او سوداګریزه اجازه لیك یې تر لاسه کړ او خپل مرکز یې د هند په لوېدیز ساحل (سورت) کې ځای پر ځای کړ. په ۱۶۱۴ کې د انګلستان پاچا لومړی جیمز د (سرتوماس

رو) په نوم خپل یو استازی د هندوستان د شهنشاه جهانګیر دربار ته واستاو او ور څخه یې هیله وکړه چې دوی سره سوداګریزې اړیکې ولري. په ۱۷۰۰ کال کې انګریزي کمپنۍ د (ختیځ هند متحده شرکت) جوړ کړ او له هند سره یې په سوداګرۍ کې د انحصار حق تر لاسه کړ. په ۱۶۳۹ کال کې انګریزي کمپنۍ د کرناتك د غرنۍ کلا له واکمن چندراګیري راجا څخه مدراس په بیه واخیست. هلته یې د (سنت جورج) کلا آباده کړه او په بل ګام کې یې د مدراس د خلکو د اوسېدلو ځای باندې د توریانو د ښار نوم کېښود. په دې ډول سره له تور رنګ لرونکو وګړو سره د اروپائیانو توپیر او ځانګړتیا اعلان او په ډاګه کړه. په ۱۶۴۰ کې یې شهزاده بیګم وسوځېده او کمپنۍ یې درملنه وکړه او د درملنې د حق الزحمې په بدل کې یې د ګانګا د سیند په پای کې (هوګلي) هم تر لاسه کړه. وروسته یې درې نورې سیمې واخیستې چې یوه یې کلکته وه. بمبئی لا دا وخت د پرتګال وه. خو کله چې دوهم چارلز انګریز د پرتګال د پاچا له لور سره واده وکړ، بمبئی یې په ۱۶۶۲ کال کې د واده په جهیز کې ور څخه واخیسته. شپږ کاله وروسته بیا چارلز بمبئی د لس پونډه کلنۍ اجارې په بدل کې کمپنۍ ته ورکړه. کمپنۍ په ۱۶۴۰ کې په کلکته کې سوداګریز مرکز جوړ کړ. په ۱۶۸۹ کې کمپنۍ د هند په کورنیو چارو کې د لاسوهنې له امله د هند د دولت تر یرغل لاندې راغله یو څو ښېرې او څو تنه یې برمته شول. سورت ونیول شو او بمبئی کلا بنده شوه. کمپنۍ ژمنه وکړه چې راتلونکې کې به د هند په کورنیو چارو کې کار نه لري. بیاځې او بیاځې به سوداګرۍ پر مخ بیایي. په بل کال کمپنۍ په کلکته کې د (سنت ویلیام) کلا آباده کړه. په بنګال کې یې هم د خپل سوداګریز مرکز په بدل کې سیمه ییزو حکومتونو ته د کلنۍ اجارې پیسې ورکولې. له انګرېزانو سره یو ځای هالندیانو هم په هند کې سوداګریز مرکزنه درلودل. فرانسویانو د لوی هند په پونچري او چندرا نیګر او یو شمېر نورو سیمو کې سوداګریز مرکزونه درلودل. د انګرېزانو او فرانسویانو د سوداګرو مشران هر یو یې په خپلو مرکزونو کې د هغې سیمې ګورنران بلل کېدل او یو بل سره به یې سیالي کوله، په تېره بیا هغه مهال چې وروسته تر ۱۷۴۴ څخه په اروپا او هند کې د انګرېزانو او فرانسویانو تر منځ جګړه وشوه او فرانسې مدراس ور څخه ونیو، سره له دې چې په ۱۷۴۸ کې د دواړو تر منځ روغه وشوه او مدراس بېرته انګرېزانو ته ورکړل شو، خو سیالي هماغسې پاتې وه تر څو انګرېز بشپړ بري ومونده.

په هند کې د انګریزي کمپنۍ د سوداګرۍ انحصار ۲۱۳ کاله دوام درلود او بیا وروسته خپلواك شو، خو کمپنۍ لا هم په عملي توګه پرته له کوم سیال څخه پاتې وه. کله چې کمپنۍ وغوښتل چې د سوداګرۍ له قالب څخه د نړۍ نیولو په ښکېلاکګره بلا ځان واړوي، د هند دولت فاسد شوی و او لوی هندوستان په ټوټو ټوټو وېشل شوی و. د بېلګې په توګه د سند کیڼ اړخ کې تر ستلج (پنجاب، ملتان او کشمیر) پورې د افغانستان دولت واکمن و. راجپوتانه د راجپوت شهزاده ګانو په لاس کې وه. او ده د شجاع الدوله تر واك لاندې وه. بهار او بنګال د نواب علي وردي سیمه وه. منځنی هند د مرته د لوی لوېدیځ پورې و. جنوبي هند د نظام دکن تر حکومت لاندې و چې پلازمینه یې حیدر آباد و. ددې جنوب

Scanned by CamScanner

په یاد میسوري دولت و چې نامتو سلطان یې حیدر علي نومید او د هغه ختیځ کې د کرناټک حکومت چې مشرتوب یې د نواب انورالدین په لاس کې و. خو بیا هم دغه ټول حکومتونه یا په عملي ډول او یا هم هسې په نامه د هندوستان د بابري شهنشاهي تابع وو چې پلازمېنه یې ډیلی و. له دې پرته په هند کې یو شمېر سیمه ییز کوچني واکمن هم وو چې هر یو یې یا خپلواک و یا له خپل ځان څخه پرته یوه بل لوی حکومت ته تابع و. د انګرېزانو حاکمه طبقې په دې ډول ګډوډ وضعیت کې په هندوستان کې خپل د سرو زرو معبود د سر په سترګو لید. نو ځکه د سرو زرو دغې مرغۍ ته ډېر لېوال و او د هغې د نیولو لپاره یې هیڅ ډول اخلاقي قید و بند نه پېژاند. خو په دې باندې هم پوهېدل چې د یو سړي له خوني څخه اوښ نشي تېرېدلای. خو که چېرې اوښ ټوټه ټوټه شي نو بیا یې تېرول آسانه دي. په دې توګه یې په انګلستان کې د «بېل یې کړه بیل کړه» فورمول جوړ او په پای کې په نورو ملکونو کې د اړ دوړ او کورنیو جګړو په پېښېدو سره د انګلستان فوقیت او ځواکمن کېدل ممکن شول. دد غې لارې لګښت د جګړې له لګښت څخه ډېر لږ و او د لیدل کېدو وړ هم نه و او دغې طریقې کولای شول چې ۴۰ میلیونه انګرېزان د څلور سوه میلیونه انساني نفوس بادار وګرځوي. پالمرستون یو له هغو کسانو څخه و چې دغه خواشینوونکې سیاست یې په چټکۍ سره په ختیځ کې پر مخ بوت.

## بنګال

په هر حال، انګرېزان چې هند ته له ننوتلو سره سم د بنګال په شاوخوا کې مېشت شوي وو. خپل فعالیت یې هم له همدې ځای څخه پیل کړ. په ۱۷۵۶ کې د بنګال د پاچا «علي وردي» ځای ناستي «نواب سراج الدوله» خپل یو مامور چې کمپنۍ ته یې پناه ور وړې وه، راوغوښت، خو کمپنۍ دا خبره ونه منله. کله چې سراج الدوله د پردیو سوداګرو لاسوهنه دده د هېواد په کورنیو چارو کې ولیدله، کلکته یې ونیوله او ۱۴۶ تنه انګرېزان یې بندیان کړل چې پرته له ۲۲ تنو څخه نور ټول یې د محبس د هوا د تودوخې له امله مړه شول. انګرېزانو له مدراس څخه د میرال واتسن او کلنل کلایو تر قوماندې لاندې یو لښکر د سراج الدوله په وړاندې وروست، ځنډ وروسته د دواړو لوریو تر منځ د سولې تړون لاسلیک شو، انګرېزان د نورو قومونو په راوستلو لګیا شول. انګرېزانو وکولای شول چې د «مستر واتس» په مرسته د سراج الدوله په دربار کې خپل استازی «او مي چند» استخدام او د هغه په واسطه یې د بنګال یو ډېر ځواکمن جنرال میر جعفر د بنګال د نوابي په هیله کړ او په دغې واسطې سره یې هغه د کمپنۍ مرستندوی او خپل سړی جوړ کړ. وروسته یې بیا له سراج الدوله سره د سولې تړون په یو اړخیز ډول لغو کړ او له مدراس څخه یې یو کوچنی درې زره کسیز پوځ له لسو توپونو سره د نواب په ضد ولېږ دا په داسې حال کې چې نواب سراج الدوله یوه لویه اردو درلوده چې په هغې کې پنځوس زره پلي او اتلس زره سپاره سرتېري و او پنځوس توپونه ورسره وو، خو د جګړې په ډګر کې سرلښکر میر جعفر د دښمن پر ځای پر سراج الدوله ګوزارونه پیل کړل او د انګرېزانو قوماندان رابرت کلف یې سیل کاو. سراج الدوله ډېرې هلې ځلې وکړې خو په پای کې بندي شو او د جعفر د زوی میر صادق په امر اعدام کړل شو

او د هغه پنځوس میلیونه شتمني د کمپنۍ د مامورینو او د میر جعفر تر منځ ووېشل شوه. میر جعفر کلکتې ته نژدې ځمکې انګرېزانو ته ورکړې او په خپله د هغوی د یوه تابع پاچا په توګه د هغوی تر لاس لاندې شو. کله چې میر جعفر د انګرېزانو له چلند څخه خپه شو، له هالندیانو سره یې د انګرېزانو په ضد لاس یو کړ، خو انګرېزانو د جګړې پر ډګر دوارو ته ماتې ورکړه او د بنګال لا زیاتې سیمې یې ونیولې. وروسته بیا انګرېزانو د میر جعفر له زوم میر قاسم سره یوه توطئه جوړه کړه، جعفر یې د بنګال له تخت څخه وغورځاو او پر ځای یې میر قاسم کېناو، خو د بنګال له څلورو برخو څخه درې برخې (بردوان، جیتاکونګ او مدن پور) یې کمپنۍ ته په ډېرو پیسو سره وپېرودلې. میر قاسم چې دا حال ولید، ډېر خپه شو، نو ځکه یې د خپل ځان او خپل هېواد د خلاصون لپاره لاس په کار پوري کړ، خو انګرېزانو ډېر وخت ورنه کړ، جګړه یې ورسره پیل کړه، میر قاسم ښه دفاع وکړه، خو د پټالې په جګړه کې یې پیشدار میرزا مهدي ناکام شو، په دوهمه جګړه کې یې انګرېزانو ته ماتې ورکړه او ډېر یې ور څخه بندیان کړل کمپنۍ یو ځل بیا لرې کړل شوی میر جعفر را میدان ته کړ او د هغه تر جنډې لاندې یې د میر قاسم جنرال اسدالله ته د جګړې په ډګر کې ماته ورکړه. میر قاسم د انګرېزانو د شړلو په خاطر په منډه تړه پیل وکړ او د اوده له پاچا نواب شجاع الدوله او د ډیلي له پاچا شاه عالم (عالي ګوهر) سره یې یو ځای یو نظامي اتحاد جوړ کړ تر څو هند له انګرېزانو څخه خلاص کړي. له انګرېزانو سره ددغي اتحادیې جګړه په ۱۷۶۴ کال کې د بوکسار په سیمه کې ونښته. انګرېزانو سره قوي ناریه وسله وه او بیا یې د اعظم آباد په جګړه کې اتحادیې تا ماتې ورکړه. لامل یې دا و چې په اتحادیه کې درز راغی. د یوې ناوړه پوهې له کبله شجاع الدوله میر قاسم بندي کړ او د هغه شتمنۍ یې تر لاسه کړه، خو شجاع الدوله (دغه ظالم او حریص سړی) له ماتې سره مخامخ شو او لکنهور ته ولاړ او بیا له هغه ځایه افغاني نواب احمد بنګښ ته فرخ آباد ته ورغی او په پای کې انواله ته ولاړ چې هلته له افغاني سردارانو څخه مرسته تر لاسه کړي، خو په دې ټوله هڅو کې انګرېزان ورپسې و. د ډیلي شهنشاه شاه عالم چې دا حال ولید له انګرېزانو سره یې روغه وکړه او د په کال کې دوه نیم میلیونه روپیو معاش په وړاندې یې د هندوستان د شهنشاه په نوم د بنګال، بهار او اوریسه سیمې انګرېزانو ته ورکړې او په خپله لکه د یوه بې قلمروه امپراتور په شان ژوند کولو باندې محکوم شو او دواب کې میشت شو. کمپنۍ د میر جعفر زوی له خپل لوري هسې په نامه د بنګال د نواب په توګه مقرر کړ او له هغه سره یو ځای یې د چارو ټوله اداره انګرېزي ګورنر ته ورکړه. دغه ټولې پېښې درې کاله وروسته له هغه راغلې وې چې احمد شاه افغان پاني پت نیولې و او په افغانستان کې ښه پیاوړی و.

د بنګال د پېښو په هکله په خپله کلنل کلایو د لندن په پارلمان کې اعتراف کړی و او ویلي یې و: د سراج الدوله له واکه غورځول فقط ددې لپاره و چې د بنګال حکومت ور څخه واخیستل شي، نه بل څه، دا ځکه چې په هند کې د هندي کمپنۍ بنسټ د انګرېزانو پرمختګ کول و. کلایو د په نیول شویو سیمو کې د کمپنۍ هغه فسادونه هم بیانوي چې تر سره کړي یې و لکه لوټ، قتل، د مالونو غصب او تالان او د لاره وهونکو دننه کول، د کورني امنیت له منځه وړل او نور.[۱]

[۱]– د فظایع الدوله الاستعماریه کتاب، انګلز في الهند

## اوده او روهیله

شجاع الدوله چې کله د انګرېزانو په وړاندې له ماتې سره مخامخ شو او د انواله او فرخ آباد له افغانانو څخه یې کومه مرسته تر لاسه نشوه کړای. ناچار شو چې انګرېزانو ته ورشي. انګرېزانو هم د یوه تحمیلي او په زور لاسلیك شوي تړون له مخې (هم پر ده او هم پر شاه عالم باندې الله آباد کې) د اوده پاچاهي د ډېرو پیسو په وړاندې شجاع الدوله ته ورکړه. دا ځکه انګرېزانو غوښتل چې د همده په لاس د کټرا افغاني ولایتونه ونړوي. د بهار او بنګال ګورنر هستنګس مخکې تر دې چې په روهیله باندې یرغل وکړي شجاع الدوله ته یې چې د انګرېزانو د پورونو، تاوانونو او مالیاتو لاندې یې ملا ماته شوې وه، یو لیك لیکلی و چې د لندن په پارلمان کې شته. هغه په دغه لیك کې لیکلي و چې: (که چېرې د روهیلي خلك له خپل کړي تړون څخه سرغړونه وکړي (حال دا چې د روهیلي خلکو نه شجاع الدوله ته او نه هم انګرېزانو ته هېڅ کومه ژمنه نه وه کړې) زه به هغوی ټول له منځه یوسم او سیمه یې عالي جناب ته ورکوو.)

په دې توګه انګرېزانو له شجاع الدوله سره یو ځای د روهیله په بېګناه ولایتونو باندې یرغل وکړ او د هندوستان دغه جنت یې په دوزخ بدل کړ. یو انګرېزي افسر کلنل شیمپین د ۱۷۷۴ کال په جون کې د یوه لیك په ترڅ کې د دغې جګړې په هکله چې انګلیسي پارلمان ته یې لیکلي و داسې وایي:

(هغه ظلم او قساوت چې مونږ په دغه هېواد کې وکړ، فقط د هغو خلکو کار دی چې زړونه یې له انساني عاطفې څخه بېخي تش وي... سره له دې چې زه په ډول ډول پېښو کې کلك زړه لرم، خو بیا مې هم ونشو کولای چې د روهیله په حالاتو ونه ژاړم او زړه مې دردونه کړي... تر درې ورځو پورې د یرغلګرو توري تیکې ته نه ننوتې روهیله د وینو او لمبو یو سیند ګرځېدلی و. په زرګونه خلك ووژل شول او سل زره تنه بې کوره او غرونو ته کډوال شول او ټولې ودانۍ وسوځېدې. ددغو ټولو وژلو او ویجاړیو په بدل کې فقط شجاع الدوله دا منلې وه چې انګرېزانو ته به څلور سوه زره سره زر ورکوي. په دې توګه رو هیله ویجاړه، افغاني وزیر حافظ رحمت خان شهید او فیض الله خان له شجاع الدوله سره د یو تړون په لاسلیك کولو باندې اړ شو او د یوې کوچنۍ سیمې نوابي ورته ورسېده. په دغو جګړو کې د انګرېزانو لوی افسر (رابرد کلف) نومید چې د شاه عالم، شجاع الدوله او د بنګال د نوابانو په وړاندې یې په ټولو جګړو کې برخه درلوده. هغه د ډېرو زیاتو او ظالمانه وژنو په پای کې (لارد) شو، خو لا پنځوس کلن شوی نه و چې ځان یې په خپله ووژه. څوك ویلای شي چې دغه ځانوژنه به دده د وجداني کشمکش له امله نه وي؟

خو اوده؟ د روهیلي له نړولو څخه وروسته شجاع الدوله ډېر ژر مړ شو. د هغه ځای ناستي آصف الدوله هم د کمپنۍ په زهرو خوله ولړله. له کمپنۍ سره یې دوستي وکړه، خو د کمپنۍ د دوستۍ پېچلو درنو کړیو، دباج او پورونو درونډ بار او د انګرېزانو سودونو د اوده خزانه تشه کړه، خلك یې بېوزله او ټول هېواد یې پرېشانه کړ. د اودې مالیات په کال کې درې میلیونه پونډه کېدل، هغه ټول سم نیمايي ته راټیټ شول، خو د کمپنۍ لښکر په دوستانه بڼه پکې پروت و. د اوده نواب په ۱۷۷۹ م. کال کې د

انګرېزانو حکومت ته داسي ليکلي و. «دوه کاله کېږي چې د پخواني نواب کورنۍ په لوږه کې اوسېږي. د دولت د مامورينو معاش پاتې دي. د خلکو د پور ورکول ناشوني دي. ماليات يو نيم ميليون راکم شوي دي. کرنه له منځه تللې او زه يوه لوښت ځمکه هم نه لرم چې خپل پورونه ورکړم. نو ځکه مې د پوځ سرتيري او د دولت مامورين کم کړل. خو سره له دې هم په خپل هېواد کې د انګرېزي لښکر له شتون څخه شکايت نه کوم. سره له دې چې د هغوی شتوالی فقط سراسر زيان دی. ګډوډي جوړول دي او کومه ګټه نه رسوي. زه اوس د هغو ډېر لږ عوايدو سره چې لرم يې د خپلي کورنۍ لګښتونه هم نشم پوره کولای»

لارد هستنګس ددغه ليك په ځواب کې ورته وليکل: د نواب د ژوند ښه والی او بدوالی ما پورې اړه نه لري. هغه څه چې ما پورې اړه لري. هغه پيسو ته زما ډېره زياته اړتيا ده

په دې توګه لارد شخصاً اوده ته ورغی او د پيسو د تر لاسه کولو لپاره يې د اوده د نواب د کورنۍ په اړه خواشينوونکې ډرامه ولوبوله. يعني آصف الدوله يې اړ کړ چې خپل حرم (ميندي، خويندي، مېرمن او نور) د لوږې او تندې تر کړاو لاندې راولي او خپل ټول سره زر او ګاڼې د ۵۵۰ زره پونډو په بيه انګرېزانو ته وسپاري. په دغه بيه کې هستنګس يو ميليون روپۍ خپله برخه ځانته واخيسته او د لندن پارلمان ته يې وليکل چې: زه ددغه يو ميليون روپيو برخې د اخيستلو اجازه غواړم. دا په داسي حال کې چې د انګلستان قانون د رشوت او سوغات اخيستل منع کړي وو. د اوده کيسه همدلته پای ته نه رسيږي. په ۱۷۹۸ کې سرجان شورد هند ګورنر جنرال. د اوده لاسپوځي نواب په دې تهمت له دندې لري کړ چې ګواکې هغه د پلار ريښتيانی زوی نه دی. په بل کال بيا نوي ګورنر (مارکي ولسلي) په هند کې د کمپنۍ کړنلاره نوې کړه او د هغې بنسټ يې په ټوله هندي ټاپو وزمه باندې د واك لرلو په اصل ودراوه او په نظامي زور سره يې د کمپنۍ د ځانګو پياوړي کول تر لاس لاندې ونيول او د هر ډول مقاومت ټکول يې اعلان کړل. دا مهال يې لا ډېر کلك قوانين په اوده کې تطبيق کړل. تر څو چې نواب ښځي استعفا وکړه خو سره له دې هم ګورنر جنرال وويل چې نواب به په نيم نور هېواد کې هم خپلواك نه وي، بلکې د انګرېزانو تر حکم لاندي به وي. له دې وروسته د اوده نوابانو د هغه اطاعت له مخې چې انګرېزانو ته يې درلود تل په خپل تخت باندې په وېره ژوند تېراو. سره له دې هم کمپنۍ په ۱۸۵۳ کې نواب وليد عليشاه ته د استعفا ليك يوه بېلګه ور ولېږله چې هغه لاسليك کړي. د انګرېزانو دغه دوست نواب کلکتې ته ورغی او شکايت يې وکړ. خو هيڅوا ورته غوږ ونه نيو. تر څو چې دغه نواب هم مړ شو. د هغه مېرمنې دغه شکايت ته دوام ورکړ او له هند څخه لندن ته ولاړه او خپل غږ يې نړيوالو ته ورساو. خو هيڅوا هم د هغې پوښتنه ونه کړه او دغه ملکه (دنواب مېرمن) په ۱۸۵۸ کې په پاريس کې مړه شوه.

میسور سلطان. حیدر علي د هندوستان د تاریخ یو سرلوړی سړی دی. چې د سپاهیتوب له درجې د میسور سلطنت تر تخت پورې رسېدلی و. څواکمن او کلک هډ. اوچت غومبوري، زېږي او زړه ورکوونکي سترګي او ګوره توره ږیره یې درلوده. د هېواد په اداره کې وسپنیز سړی او د کلک نظامي انضباط لرونکی و. انګرېزانو د هغه په وړاندې له نظام دکن سره لاس ورته یو کړ او یو نظامي اتحاد یې ورته رامنځته کړ او په ۱۷۶۷ کې یې یرغل ور باندې ور وړ. خو د حیدر علي څواکونو په مهارت سره دغه اتحاد ته ماتې ورکړه او نظام علي سره یې ژمنه وکړه چې د کرناتك ولایت به ورکړي او نظام یې د انګرېز په ضد خان سره یو ځای کړ او د بنګلور له کلا څخه یې د انګرېزانو یرغل په شا وتمباو او کلنل او د هغه پوځ یې دړي وړې کړ. حیدر علي مات شوی انګرېزي سرتېري ګام په ګام تر مدراس پورې جار وکړل او هغه ټولې سیمې یې ونیولې. انګرېزانو په وېرې او اندېښنې سره روغه جوړه ورسره وکړه او هغه سره یې دا ژمنه هم وکړه چې په ټولو کورنیو او بهرنیو جګړو کې به مرسته ورسره کوي. له دې وروسته حیدر علي د پوځ په بشپړولو بوخت شو یو سل زره کسیز اردو یې جوړ کړ چې سل توپونه یې لرل او څلور سوه فرانسوي افسران یې هم پکې وګومارل او له مرته او نظام دکن سره یې د انګرېزانو په ضد اتحاد جوړ کړ. انګرېزانو نظام دکن ته خبر ورکړ چې حیدر علي د ډیلي له شهنشاهي څخه د دکن د نظامت منشور (فرمان) غوښتی دی. په دې توګه نظام له دغه تړون او اتحاد څخه جلا شو او خپلې اړیکې یې له میسور سره پرې کړې. د حیدر علي او انګرېزانو تر منځ په ۱۷۸۰ کې جګړه پیل شوه او دوه کاله یې دوام وکړ. په دغو دوو کلونو کې میسور زورور و. آن دا چې یو دوه ځایه انګرېزي پوځ حیدر علي ته تسلیم هم شو او حیدر کرناتك او ارکوت ور څخه ونیول. خو دغه زړور مبارز په ۱۷۸۲ کې یو ناڅاپه مړ شو او انګرېز ته یې ګټه دا شوه چې هغوی له یوه لوی دښمن څخه وژغورل شول. انګرېزانو په کلونو کلونو د حیدر علي په ضد تبلیغ کړی و او هغه یې غدار، ظالم او تګ ښودلی و. کله چې هغه ومړ انګرېزان د هغه له ځوی سلطان ټیپو سره مخامخ شول. ټیپو د پلار لاره نه پرېښوده تر څو چې انګرېزانو په ۱۷۸۴ کې هغه سره دروغي جوړې تړون لاسلیك کړ، خو دوه کاله وروسته د هندوستان ګورنر جنرال لارد کارن والس ددغه تړون سره سره له مرته او نظام حکومتونو سره لاس یو کړ او پر میسور یې یرغل وروړ. ټیپو او ځواکونو یې په مېړانه جګړه وکړه، خو د درې قوم ځواکونو په وړاندې مات شول او د یوه نوي تړون لاسلیك کولو ته اړ شول. ددغه تړون له مخې ټیپو د خپلې واکمنۍ نیمه سیمه. نیم میلیون پونډه تاوان او دوه زامن د برمته په توګه له لاسه ورکړل، خو بیا هم ټیپو د خپل هېواد د خپلواکي له ساتلو لاس په سر نه شو، تر څو چې په همدې لاره کې ومړ. دا هماغه له ولولو ډك داستان دی چې فرانسوي لیکوال نامتو ژول ورن د (تر سمندر لاندې سیاحت) عنوان لاندې ټیپو د خپل رومان اتل ګرځولی و. خو د هغه دښمنانو د هغه د ثبات او د هغه کلکوالي له امله چې د دښمن (انګرېز) په وړاندې یې ښودلی و، مجنون (لېونی) باله.

د هند نوی ګورنر جنرال مارکي ولسلي (۱۷۹۸ – ۱۸۰۵) خپل د کار سیستم سلطان ټیپو ته وړاندې کړ

چې د انګرېز نظامي ځواکونه په خپل لګښت په خپل هېواد کې ديره کړي او هم بهرنيان (فرانسويان) خپلې خاورې څخه وباسي. البته ټيپو ونه منله او په مصر کې يې له ناپليون سره اړيکي ونيوې ميسور ته يې د فرانسوي نظاميانو مرسته راوبلله. په دې کار سره يو ځل بيا د انګرېزانو تر يرغل لاندې راغی. انګرېزانو له مرته او نظام حکتونو سره په لاس يو کولو سره له بمبئ او مدراس څخه عسکري سوقيات وکړل. ټيپو يې په وړاندې ودرېد. هغه شپه يې چې توره په لاس کې وه له خپلو زړورو ملګرو سره يو ځای د سرنيګا پاټام د دروازې په خوله کې ووژل شو. ميسور مات شو او د هند د تاريخ يو ځيرکی په نړۍ کې تلپاتې شو. انګرېزانو د ميسور يوه برخه په خپله واخيسته او نوره يې د مرته او نظام تر منځ ووېشله او په پاتې برخه کې يې يو پنځه کلن ماشوم (کرشنا راجا) د ميسور د شهزاده ګانو د پاتې شوني په نامه د ميسور پر تخت کېناو. په داسې حال کې چې د ټيپو زامن يې (ويلور) ته تبعيد کړل په دې توګه کوچنی ميسور د بريتانيا د دولت يوه برخه وګرځېد. خو ويلور هلته ورغلي دي، د انګرېزانو په ضد پاڅېدل خود ارکوت د انګرېزي لښکر په وسله وتېکول شول. دا ځل د ټيپور زامن کلکتې ته تبعيد شول تر څو چې د هغوی نوم او نښان ورك شو. په ۱۸۳۰ کې د هند ګورجنرال ويليام بنتنك يو ځل بيا د ميسور په تحت الحمايه دولت کې مداخله وکړه کرشنا راجا يې لرې کړ او هغه يې اړ کړ چې د راتلونکي پاچاهي لپاره ځانته يو پسر خوانده غوره کړي. لرې کړل شوي راجا همدا کار وکړ او يو کوچنی ماشوم يې خپل زوی وباله. ددغه ماشوم تر ځوانېدو پورې د حکومت چارې يوې انګرېزي کمپنۍ ته وسپارل شوې. دغې کمپنۍ بيا تر پنځوس کالو پورې په ميسور کې حکومت وکړ. ماشوم چې کله ځوان شو په يوه ډوډۍ او اوبو قانع و هغه هم د انګرېزانو په اجازه. لارد بنتنك ددغه ټول اختيار په اخيستلو هم بس ونه ويل. لارد د کرشنا له لرې کولو وروسته د ميسوري په لوېديځ کې غرنۍ سيمې (ګو ورك) باندې يرغل وکړ، د هغه ځای راجا يې بندي کړ په ويلور کې يې واچاو او بيا يې له ويلور څخه بنارس کې تبعيد کړ. دغه تبعيد شوی راجا انګلستان ته ولاړ او هلته په ناهيلۍ کې ومړ (۱۸۵۲). کله چې لارد بنتنك په نظامي زور سره ګو ورك ونيو، اعلان يې وکړ چې دا کار يې د هغه ځای د خلکو په غوښتنه کړی، دا ځکه چې دغو خلکو غوښتل چې د انګرېزانو د حکومت له عدالت سره يو ځای شي.

## مرته (مرهټه)

مرهټيانو پخوا د لوېديز هند په غرنی سيمه (د بمبئ په ولايت) کې ژوند کاو. دوی زړور او ډېر فعال خلك وو، د ځنګل لرونکو غرونو په لوړو څوکو کې چې ستونزمنې لارې يې درلودې د مرته فيوډالانو کورونه وو، دغه هر فيوډال په کوزو هوارو وادي ګانو حکم چلاو، دوی ډېر کلونه د دکن د اسلامي دولتونو د اتباعو په توګه ددکن حکومت ته ماليه ورکوله. په اوولسمه پېړۍ کې مرته د سيواجي تر مشرتوب لاندې د يوه دولت په بڼه را څرګند شول. سيواجي يو بې سواد ځوان و، خو ډېر تکړه آس

ځنډونکی او پوخ غشی ویشتونکی او زړور سړی و. هغه لومړی د بیجا پور د پاچا په خدمت کې داخل شو او په (پونه) کې یې ژوند غوره کړ او بیا د لوېګرو مرتبه ډلو مشر شو. دا مهال یې دغرونو په لوړو څوکو کې د کوچنیو فیوډالانو کلاوې یوه په بله پسې ونیولې او نوم یې هر ځای ته ورسېد. د بیجا پور پاچا ور څخه وویرېد، نو ځکه یې د سیواجي د نیولو لپاره پوخ ورپسې راوویست. سیواجي په یوه چل او غلا سره د بیجا پور قوماندان افضل خان مړ کړ او د هغه لښکر یې ویجاړ کړ. د مرهټه وو غټو فیوډالانو چې دا حال ولید ورسره یو ځای شول او په دې توګه د مرته دولت جوړ شو. سیواجي د اسلام د دښمن او د برهمني دین او سپېڅلي غوایي د لارې د یوه مجاهد په توګه وپېژندل شو او نوم یې په ټول هند کې واورېدل شو. له دې امله چې د دکن پاچایان له اورنګزېب سره په اخ و ډب کې وو نو سیواجي سره یې د حساب کتاب وخت ونه موند. سیواجي دومره پیاوړی شو چې د بیجاپور پاچا د یو قرار داد له مخې هغه په رسمي توګه د دکن د لوېدیزو سیمو د پاچا په توګه وپېژاند. اورنګزېب له دکن څخه د هغه د ټکولو لپاره لښکر.روان کړ، خو سیواجي په ډېر زړورتوب او په ټکګي سره د اورنګزېب تره او نایب السلطنه شایسته خان د هغه له لښکر سره یو ځای پاك جارو کړ. اورنګزېب د یوې ژمنې په ترځ کې هغه خپل دربار ته راوست، خو هغه په یوې دوکې سره وتښتېد او په جنوبي دکن کې د پاچاهي خول پر سر کېښود. دې پسې وروسته آن تر مدراس پورې ورسېد او د سورت ښار یې لاپخوا لوټ کړی و. ده د میسور، کرناتك او بنګلور کلاوې هم ونیولې او بېرته پونه ته راستون شو. دا وخت د دکن ټول حکمرانان ورته تابع شول او سیواجي ته یې باج ورکول ومنل. سیواجي په ۱۶۸۰ کې ومړ. له دې امله چې وروسته تر اورنګزېب څخه د هندوستان مرکزي دولت ضعیف شوی و، نو ځکه د مرته دولت ځواکمن شو او تر اتلسمې پېړۍ پورې د جنوبي هندوستان تر ټولو لوی ځواك و. د دوی مذهبي مشران چې په پیل کې د مرته پاچاهانو وزیران وو، ورو ورو د لا زیات واك خاوندان شول او په عملي توګه یې د دولت چارې په لاس کې واخیستې. د اورنګزېب تر مرګ وروسته د مرهټه دولت راجا (شاهو) و چې یو بې کفایته سړی و او د دولت واك او چارې یې ټول خپل برهمن وزیر بالاجي راو (مذهبي پېشوا) ته وسپارلې. له همدې دورې وروسته وزارت هم لکه د سلطنت په شان میراثي بڼه غوره کړه او د پېشوایانو (مذهبي مشرانو لړۍ پیل شوه او پونه یې مرکز وګرځېد. دوی د سولې او جګړې واك درلود او په عملي

توګه د مرته د ټولې سیمې (مهارا شترا) حکمرانان شول. حال دا چې د مرته پاچایان په (ستارا) کې په ډېر لږ واك سره ناست وو همدغه بالاجي راو چې په ۱۷۰۸ - ۱۷۲۰ کلونو کې یې هندي محمد شاه اړ کړ. چې د ټول دکن مالیات مرته وو ته ورکړي. د دوی دغه زور دومره زیات شو. چې محمد شاه د ډیلي د بچ پاتې کېدو په خاطر اړ شو چې د خپلو ټولو واك لاندې سیمو د مالیاتو څلورمه برخه مرته ته ورکړي. په دې توګه د مرته واك او دولتي اختیارات له منځني هند څخه نیولې (بنګال) اوده. راجپوتانه او سند) تر دکن او میسور پورې پراخه شول چې دغې سیمې ته یې د (مهارا اشترا) نوم ورکړ. یعني د مرهټه وو هیواد له ختیزو غاړو څخه تر لوېدیزو غاړو پراخ و او د ټول بر صغیر څلورمه برخه کې د دوی واك و. د مرته نورو مشرانو په ګجرات. ګوالیار او اندور کې واکمن وو دوی هم دېر واك درلود د هند والیانو به دوی ته باج ورکاو او د کلکتې انګرېزانو به هم دوی سره ډېر احتیاط کاو او په ډېره حوصله. حیله او پوره زغم سره یې ځانونه ور څخه ساتل

دوهم پېشوا (باجي راو) تر ۱۷۴۰ پورې وکولای شول چې له محمد شاه هندي څخه څلورمه برخه مالیات تر لاسه کړي. سره له دې چې د مرته دولت که څو څو بېلې پاچاهۍ وې. خو دا ټولې د پونه پیشوا ته تابع او اطاعت یې کاو لکه ګجرات چې د (جیګور) تر واك لاندې و. ګوالیار د (سندیا) د کورنۍ لاس کې و، اندور د هولګر تر واك لاندې او ناګپور د (بهونلا) تر واك لاندې و. دا ټول میراثي وو. دریم پیشوا (بالا جي باجي راو) نومید چې دا د احمد شاه ابدالي معاصر و او وروسته بیا له احمد شاه سره مخامخ شو او ماتې یې وخوړه. د مرته وو څلورم پېشوا (ماهدوراو) چې په ۱۷۷۲ کې ومړ. د مرته وو رئیسانو ده د ورور پیشوایي ونه منله او هغه یې مړ کړ او ده د تره (راګوبا) پیشوایي یې هم ونه منله. راګوبا بمبئی کې انګرېزانو ته ورغی. انګرېزانو ور څخه ژمنه تر لاسه کړه چې بمبئی ته نژدې به دوه ټاپوګان (سالسټ او باسین) دوی ته ورکوي او بیا یې ده سره د مرستې په توګه د مرته په سیمو لښکر وروست او له ۱۷۷۸ څخه تر ۱۷۸۲ پورې یې څلور کلونه پرله پسې خلك ووژل او ویني یې وبهولې او آن دا چې په خپله د (راګونات راو) د نیولو په خاطر یې بمبئی ته عسکر واستول. د ګوالیار د مرته وو واکمن (سندیا) د انګرېزانو دغه لښکر ته ماتې ورکړه. خو لارد هستنګس یو بل پوځ ګوالیار ته واستاو او د هغه ځای جنګي کلا یې ونیوله او په پای کې یې دغه دوه ټاپوګان ونیول او د سولې تړون

بې لاسلیك کړ. خو مرته چې د ولسلي سیستم نه و منلی. ډېر ژر د انګرېزانو د سیسو له امله په کورنیو بخړو اخته شول د راګوبا زوی پیشوا باجي راو له سندیا سره یو ځای د هولکر په واکمن یرغل ورو پولکر خواکمن و، نو ځکه یې په ۱۸۰۰ م کال کې په پونه باندې یرغل وکړ. پونه یې ونیوله او هلته یې نوی پیشوا وټاکه. باجي راو لکه د خپل پلار په شان د بمبی له انګرېزانو څخه مرسته وغوښته. انګرېزانو په ۱۸۰۲ م. کال کې یو داسې تړون لاسلیك کړ چې د هغه له مخې به پونه ورته تسلیموي او د ولسلي سیستم به هم مني. د ګجرات د مرته مشر هم دغه سیستم ته غاړه کېښوده. خو د راوسندیا دولت چې په مرته کې ډېر ځواکمن و او د بونسلا راو ګوجي راجا دغه سیستم ونه مانه. په تېره بیا سندیا دغه سیستم ونه مانه چې ډهلي او اګره دواړه ورسره وو او ړوند کړل شوی شاه عالم (روهیله خلکو هغه ړوند کړی و) یې د هغه د پاچا په توګه را مخکې کړ. په دې توګه د هندوانو او مسلمانانو تر منځ یو والی راغی انګرېزانو په ۱۸۰۳ کې په دواړو دښمنانو باندې یرغل وکړ او د ډېرو خلکو له وژلو وروسته یې د ولسلي سیستم د دوی په اوږو وربار کړ. انګرېزانو دا مهال د ډیلي او اګرې ډېرې سیمې نیولې وې. ړوند شهنشاه یې په یوه مانۍ کې کېښولی و چې هسې په نوم ژوندی و او د انګرېزانو پاتې لښکریان ټول په پونه او ناګپور کې مېشت شول. په دې پسې وروسته انګرېزانو بل ګام هم اوچت کړ. دوی د جمنا شمال سیمې خپل قلمرو پورې وتړلې او د (برار) ولایت یې خپل دوست نظام دکن ته ورکړ او د راجپوت په شهزاده یې هم د ولسلي سیستم تحمیل کړ. هغه یواځینی قوت چې د انګرېزانو تر امر او سیستم لاندې رانغی هغه هولکر و. هولکر مقاومت وکړ او وروسته بیا سندیا هم ورسره یو ځای شو، انګرېزانو په ۱۸۰۴ کې څو څو ځله جګړې ورسره وکړې خو هر ځل د هولکر په لاس مات شول او بېرته اګرې ته ونښتېدل په پای کې هولکر د خپلې حکمرانۍ په ساحه کې په شاه ولاړ او له ۱۸۰۵ م کال څخه وروسته د هغه د ګورنر جنرال کفیل (سرجارج باکو) له هولکر سره روغه-جوړه وکړه.

مګر مرته د انګرېزانو له واکمن څخه کرکه درلوده او د خپل واك د بېرته تر لاسه کولو په لټه کې وو. په ۱۸۱۷ کې باجي راو د مرته په لارښوونه د انګرېزانو په ضد پاڅون وکړ او د پونه تر څنګ یې وروسته تر ډېرو جنګونو د انګرېزانو له لاسه ماتې وخوړه، انګرېزانو یې هېواد ونیو او په خپله باجي راو یې کانپور ته تبعید کړ او وروسته تر هغه د ناګپور په مرته وو باندې ورغلل. د ناګپور راجا د جګړې په

Scanned by CamScanner

ډګر کې له ماتې سره مخامخ شو انګرېزانو یې هېواد ونیو او په خپله باجي راو یې کانپور ته تبعید کړ او وروسته تر هغه د ناګپور په مرته وو باندې ورغلل. د ناګپور راجا د جګړې په ډګر کې له ماتې سره مخامخ شو انګرېزانو هغه وځغلاو او پر ځای یې خپل لاسپوځی راجا کېناو او بیا یې د اندور خواته پام واړاو. د اندور ملکه (تولسي بايي) چې د هولکر ځای ناستې وه له خپلو پوځونو سره یو ځای د انګرېزانو په وړاندې مقابلې ته ځان چمتو کړ، خو کله چې انګرېزان رانژدې شول وو برېده او ورته تسلیم شوه. د مرته لښکر په غوسه شو او هغه یې ووژله او له انګرېزانو سره یې مقابلې ته دوام ورکړ، خو د انګرېزانو وسله ډېره پیاوړې وه او دوی ته یې اندور د راجا په نامه د خپلو پوځونو تر خارنې لاندې وټاکه. وروسته تر دې د جنوبي او مرکزي هندوستان خپلواکي په بشپړه توګه له منځه تللې وه. په مرته باندې د انګرېزانو وروستۍ عجیبه حمله په ۱۸۴۳ کال کې د هند د ګورنر جنرال لارد ایلن برو له خوا وشوه. دا ځکه چې لارد وویل چې د ګوالیار د مړه شوي راجا ځای ناستې او دولس کلنې ښځې د انګلستان د امپراتورۍ په وړاندې جګړه پیل کړې ده. نو ځکه باید ګوالیار سره جګړه وشي.

په دې توګه یې وروسته تر دوو جګړو ګوالیار ونیو او د هغه ځای د څلورویشت زریزه پوځ شمېر یې نهه زرو تنو ته راټیټ کړ او ددغه هېواد د اداري لپاره یې یوه (مدیره کمېټه) وټاکله چې په دغې کمېټې کې د مرته څخه هم شپږو تنو غړیتوب درلود.

## بنارس

په هند کې انګرېزي سوداګریزي کمپنۍ چې د سوداګرۍ په نوم کار پیل کړی و. وینې تویول او د ملکونو نیول یې پیل کړل. تر ۱۷۷۴ کال پورې د خپلو پوځي یرغلونو له امله دوه میلیونه پونډه استرلنګ پوروړې شو. د دوی پوروړتوب ددې کمپنۍ نقاب راوغورځاو او اصلي څېره یې بربنډه شوه. په همدې کال کې د بنګال ګورنر د ټول هندوستان د ګورنر جنرال نوم تر لاسه کړ او دا هماغه وارن هستنګز دی چې مخکې یې څو ځایه نوم راغلی دی. د ټول هندوستان د ګورنر جنرال کېدو څخه وروسته په کلکته کې دېوان عالي جوړ شو او په چارو کې له ګورنر جنرال سره د مرستې لپاره څلور کسیزه کمېټه وټاکل شوه چې دا د پخوا وختونو پر خلاف د لندن له لورې ټاکل شوې و. ددې لپاره چې هستنګس دغه پور وړتوب پوره کړي د هندوستان په خلکو یې زور راوړ او غوښتل یې دغه پوروونه په خلکو پوره کړي او هماغه کانه یې چې د اوده په حکومت باندې کړې وه، په بنارس کې یې هم د

انګرېزانو په ملګري، مطيع او دوست راجا باندې هم وکړه. بنارس په اصل کې په اوده پورې تړلی ايالت
و. کله چې انګرېزانو له اوده سره په جګړه بوخت و د بنارس راجا چتيت سنګهه د هند لوري پرېښود او
له انګرېزي دوستانو سره يو ځای شو. انګرېزانو وغوښتل چې نوموړی د هند نورو خپلواکو
واکمنانو ته يوه بېلګه او نمونه وګرځوي. نو ځکه يې نه چلند ورسره پيل کړ ترڅو نور هم وهڅول شي
او انګرېزانو ته تسليم شي. ساده راجا هم د انګرېزانو لمن نه پرېښوده او ټاکل شوی خراج يې په ټاکلي
وخت ورکړ. خو له ده سره د انګرېزانو دغه مينه تر ډېره پاتې نه شوه. هستنګس ورته امر وکړ چې هر څه
چې لري بايد د انګرېز حکومت ته يې ورکړي. راجا چې لا مخکې خپله ټوله شتمني له انګرېز سره په
جګړو کې له لاسه ورکړې وه، نور څه ورسره پاتې نه و چې ور يې کړي. دده ته يوه لاره پاتې وه چې هغه د
حرم ښځو ګاڼې او نور قيمتي شيان وو. خو هغو ته لاس رسېدل د راجا له واك څخه وتلي و. بله لاره يې
نه درلوده، لارډ ته يې خپل معذرت وړاندې کړ. لارډ په غوسه شو او د (دوستانه) غوښتنې تاوولو لپاره يې پر
بنارس عسکر ورواستول. دا مهال خلك پوه شول چې انګرېز (دوستان) يواځې له دوی څخه فرمانبرداري
او اطاعت نه غواړي، بلکې د دوی مال، هېواد او هر څه ور څخه غواړي. نو د هغو خبره يې ونه منله او
پاڅون يې پيل کړل. په دغو ملي ولولو کې نژدې و چې لارډ له نړۍ څخه ورك شي. خو د لښکر ډېره
پرمختللې وسله د هغه مرستې ته راورسېده او په پاڅون کوونکو بريالي شول. انګرېزانو په پاڅون
ځپلو تر بري وروسته خپل دوست راجا له تخت څخه لاندې راګوزار کړ او لارډ د هغه د حرم ښځې
انګرېزي سپاهيانو ته ور وبښخلې او پر ځای يې د هغه لاسپوڅی وراره کېناو. دا د انګرېزي تمدن
روښانه ننداره وه چې د هندوستان سوله خوښوونکو خلکو ته وښودل شوه. سره له دې چې کمپنۍ په
رسمي توګه د ګورنر جنرال دغه جنايت وغانده. خو د لندن پارلمان لارډ وستايه او له سزا (جزا) څخه
يې معاف کړ. وروسته بيا د انګلستان صدراعظم په ۱۷۸۴ م. کې يو قانون د پارلمان له لارې تصويب
کړ چې د هغه له مخې د هند د چارو د کنټرول لپاره د پارلمان تر سيده څارنې لاندې د شپږو تنو لرونکې
يوه کمېټه جوړه شوه.

## دکن

د هند لومړنی هېواد چې د هند په نيمه وچه کې يې د ولسلې پړی په غاړه کې واچاو د دکن نظام و. آيا
دغه سيستم ماهيت څه و چې ټول هندوستان يې په بل مخ واړاو او انګرېز ته په خراج ورکولو يې اړ
کړ؟

انګرېزانو به تر هر څه د مخه په خپل پام وړ هېواد کې هغه سيمې نيولې چې له اقتصادي او سوق
الجيشي پلوه به يې مهم ارزښت درلود. بيا به يې د هغو سيمو پاچا له تخت او قدرت څخه راګوزار کړ
او ځای به يې د هغه بل سيال يا يوه محلي خاين لاسپوڅي ته ورکاو، بيا به يې دغه ډول خاين او
لاسپوڅی تر مالي او سياسي فشار لاندې راوست او هغه به يې په خلکو باندې ظلم او ستم ته وهڅاو او
په دې توګه به خلك د هغه وينو ته تږي شول او ځيني وخت به ملت د دغه ډول شخص په ضد پاڅون وکړ،

Scanned by CamScanner

نو منفور، ناکام، بدنام او ډارن واکمن به په داسې حال کې د ملت د کسات له ویرې او د دریغ د ساتلو په موخه د انګرېز هر ډول اطاعت ته حاضر شو او د انګرېز ملاتړ به یې د خپل ژوند ضمانت باله او له دې افسانوي غلام څخه به هم زیات فرمان وړونکی شو. په دې حالت کې به د ظلم له زوره ځپل شوی ملت دومره په غوسه و چې د بهرنیو واکمني به یې غوره وبلله. په همداسې وخت کې به انګرېزي لښکر دغه هېواد سره ځان (دوست) کړ او همالته به میشت شو او لګښت به یې هم د همدغه هېواد په غاړه و او داسې به یې ښودله چې حکومت یې له بهرني تیري څخه ساتي خو د انګرېزي لښکرو لګښت به دومره زیات و چې د دوست هېواد ملا به یې ماتوله او سیمه ییز دولت به یې دې ته اړ ایست چې ملت لا زیات وځبېښي. دغه ډول ښکېل شوی حکومت نشو کولای د ترقي په لور کوم ګام اوچت کړي او ځان په اقتصادي او ټولنیزه ترقي کې له نړۍ سره سیال او نورو هېوادو سره اړیکي ولري یا ځان ته ملي اردو او هغه هم پرته له انګرېزي افسرانو څخه جوړه کړي او له ځان څخه دفاع وکولای شي. په دې توګه دغه ډول دولتونه تر څو چې ژوندي وي لکه د بېزو په شان لاسپوځي او د انګرېز د دوستۍ په زنځیر کې په ګډول کېږي. همدا و په هندوستان کې د ولسلي د سیستم پایله!

په هر حال، کله چې د ولسلي سیستم د مرته، مېسور او دکن حکومتونو ته وړاندې شو، په لومړني حکومت کې ونه منل شو او د خپل هېواد خپلواکي یې وساتله. خو د انګرېز په لاس له منځه ولاړل. خو ددغه هېواد د خلکو مېړنۍ مبارزه د هند په تاریخ کې د یو ځلاند څپرکي په توګه په یادګار پاتې شوه، خو د دکن نظام دغه سیستم ومانه. فرانسویان له حیدر آباد څخه وایستل شول او ځای یې انګرېزي لښکرو ونیو. وروسته وروسته بیا ددې لښکر لګښتونه دومره زیات شول چې دد کن نظام خپلې زیاتې ځمکې د خپل انګرېزي دوست د حکومت مرستندویه پوځونو ته ورکړې. انګرېزي افسرانو د نظام تر زنې لاندې د دکن د لښکر دولس زره سرتیري تر خپل امر لاندې راوستل او خپل لس زره سرتیري یې د هغه پلازمېنې (حیدرآباد) ته یو پړاو نژدې ځای پر ځای کړل. په دې توګه د دکن نظام دولت چې هسې په نوم خپلواک و، خو په اصل کې د انګلستان د واک تر اغېزې لاندې و. دغه هېواد د هند یو لوی ریاست و او د انګلستان په اندازه پراخوالی او پنځلس میلیونه وګړي یې لرل. البته د دکن دوست پاچا یواځې په خپله ماڼۍ کې خپلواک ګرځېدلای شو، خو د هغه د وزیر او صدراعظم ټاکل هم د انګرېز د پارلمان په واک کې و. دا هغه څه و چې انګرېزانو په آسیا کې له خپلو ټولو دوستو هېوادونو څخه غوښتل. انګرېزي ښوونکو هم په کلونو کلونو ددغو هېوادونو ماشومان په همدغې روحیه روزل او تلقین کول او دا یې ښووله چې: «... که چېرې د مرته مشرانو او سلطان ټیپو د ولسلي له هوښیارۍ ډک پلان(!) سره توافق کړی وای، نو لکه د دکن د نظام په شان به یې چارې ډېرې ښې وای او اولاد به یې نن ورځ حکم چلوونکي شهزاده ګان وای....»[1]

---

۱– د هند تاریخ، مارسدن، ۱۶۹ مخ

## کرناټک

د دکن د پاچا نظام الملك له مړیني (۱۷۴۸) وروسته د کرناټك حکومت د هغه ځای د والي انورالدین په لاس کې و او په دکن کې ناصر جنګ د نظام الملك زوی د پلار ځای ناستی شو. دغو دواړو دوه سیالان لرل: یو د نظام الملك لمسی مظفر الملك و چې د ناصر جنګ سیال و او بل چانده صاحب چې د انورالدین کلك سیال و. دوی دواړو په (پوند یچري) کې د انګریزانو لوی دښمن د فرانسې ګورنر (د وپلې کس) ته لاس وغځاو. د وپلیکس د (بوزي) تر قوماندې لاندې یو استعماري پوځ انورالدین ته ور ولېږ. انورالدین یې د کرناټك په پلازمینه ارکوت کې او ناصر جنګ یې په دکن کې وواژه. په دې توګه چانده په پلازمینه ارکوت کې او ناصر جنګ یې په دکن کې وواژه. چانده په کرناټك کې او مظفر جنګ په دکن کې د فرانسې تر ملاتړ لاندې نوابان شول، ددې پر ځای د (سرکار شمالي) ولایت په ختیځو څنډو کې فرانسې تر لاسه کړ. او دوپلیکس د کرناټك د ګورنر په توګه وپېژندل شو. د انورالدین زوی محمد علي لا هم په (تریچینو بولي) کې مقاومت کاو او له لېوه (فرانسې) څخه یې پړانګ (انګرېز) ته پنا یووړه. کپتان کلایو له انګرېزي لښکر سره مخامخ په ارکوت یرغل وکړ. او هغه یې ونیو. خو د فرانسې لښکر او د چنده زوی دوه میاشتې هغوی کلابند کړل. د همدې کلابندۍ په ترځ کې کلایو د کاختې له امله ایشولې وریجې خپلو انګرېزي سرتېرو ته او د ایشولو وریجو اوبه هندي سرتېرو ته ورکولې، تر څو چې انګرېزي نوی مرستندوی پوځ له مدراس څخه راورسېد او د چانده زوی وتښتېد. همدارنګه د فرانسې پوځ په (تریچینوپولي) کې د میجر لارنس د پوځ په وړاندې مات شو. چانده (تنجور) ته وتښتېد. په دې توګه محمد علي د انګرېزانو وفادار ملګری د کرناټك نواب شو. له دې امله چې دوپلیکس د لندن له یوه یادداشت سره سم د پنځلسم لویي په امر فرانسې ته وروغوښتل شو (بوزي لا په حیدرآباد کې و)، نو په جنوبي هند کې نور نو انګرېزانو ته کوم بډ او سیال پاتې نه شو.

دا مهال چې د انګرېزانو د اسارت زنځیر د محمد علي په پښو کې پروت و د انګرېزي لښکر د لګښت او د خپلو پورونو د ورکړې په خاطر اړ شو چې په خپل ملت باندې درون مالي پېټی بار کړي. دغه فشار او د مالیاتو حواله کولو خلك اړ کړل چې د نواب له لاسه د ځان د خلاصون په خاطر په خپله انګرېزانو ته ورشي. په پای کې نواب د انګرېزانو په سلا او ملاتړ په تنجور باندې د پیسو د تر لاسه کولو لپاره یرغل وکړ. د تنجور راجا چې د ځان ساتنه نشوه کولای، اطاعت ته چمتو شو او دوه میلیونه روپۍ یې د خراج او د جګړې د تاوان په توګه ومنلې، خو انګرېزانو ورته بهانه وکړه چې ددغو پیسو ورکړه دوه ورځې ځنډېلې ده، نو د محمد علي له خوښۍ پرته یې په تنجور باندې یرغل وکړ او راجا یې د هغه له شتمنۍ او ټول هېواد سره ونیو او د هغه تر واك لاندې سیمې یې محمد علي ته ور وبخښلې. انګرېزانو په بل ځل کټ مټ همدا لوبه د (ماروار) په هکله هم وکړه او د محمد علي د نقاب تر شا یې پوځ ماروار ته دننه کړ. د هغه ځای کوچنی راجا، د هغه مور او وزیر یې بندیان، شتمنی یې ضبط او ټول خلك یې ورته لوټ کړل. محمد علي د سر په سترګو کتل چې انګرېزان دده په نوم څومره ظلمونه دده پر ملت باندې کوي او که انګرېزان وغواړي یوه عفو هم اعلان کولای شي او دا د انګرېزانو یو شفقت او عدالت

سپارلی و هیڅ کوم واك نه درلود او د انګرېزانو ته خپل روح او خپل ځان لا پخوا محمد علي چې بولي په ۱۷۹۵ کال کې په ډېره پښېماني او ځه نشو ویلای تر څو چې خپلو دوستانو د بد چلند په وړاندې یې تلپاتې خواشیني سره ومړ.

هغه درې کاله وروسته له همدې ډول سلطنت عمدة الامرا کېناست د محمد علي پر ځای دده زوی راوپرځید د انګرېزي دوستانو لښکریې په بستر پروت و. په داسې حال کې چې د مرګ په کولو څخه. مانې ورته کلابنده کړه او ودانۍ یې ټوله تلاشي کړه. دې بهانه چې د میسور له نواب سره اړیکي لري. هغه کې یې نوموړی ولیعهد لیك تر لاسه کړ چې په هغه وصیت هغوی د پلټني په ترخ کې دده د پلار هغه دوست حکومت هم په هند کې یو بل په دې توګه کړې. ټولې خزانې تر لاسه کړې او وروسته یې ټولې چې یو شمېر لاندي هېواد کې دا و ترښکېلاك یا په پام وړ چلند یو بل دولت د انګرېزي راوپرځېد. همدارنګه په یو هېواد خپل تیري لپاره بهانه کړل. او هغه به یې د جعلي جوړ کړل اسناد به یې لیکونه او وطنه لارویانو څخه یو څو بې د خاوري یوه برخه له هېواد هغه د لپاره موندلو لاري د خانته به یې کې نوې اروپا د اصل کې په ایستل ناشوني و. شړل او د انګرېزانو څخه خاوري له هغې پېرودله. نو بیا او پټو اعمالو او سري توافقاتو. او خفیه خبرو اترو. پټو د توطئې په هکله د نورو هېوادو سیاست وربانديې ور زیات کړی و چې هغه د خو انګرېزانو یو بل نوبت هم ولاړ و. جاسوسي کړنو پر بنسټ جعلي اسنادو جوړول و.

## نېپال

په دغه هېواد د راجپوت ګورکه کوله. د نېپال د هېواد اداره د یرغل پر مهال د انګرېز د آسیا باندې خلکو درې ځلور ځله لښکر وروست. د نېپال زړورو لسیزه کې لارد هستنګس نولسمې پېړۍ په دوهمه ټویولو ددغه ډېرو قتلونو او وینو لښکر وکولای شول چې په ځلورم ځله د دښمن لښکر ورمات کړ. هېواد پلازمېنه کتمندو ونیسي.

له جګړه مارو ګورکه و وروسته بیا انګرېزانو ددغه هېواد مغلوب حکمران اړ شو چې اطاعت وکړي. او د نورو ملتونو په ضد یې سکهانو په شان یې استخدام کړل چې لکه د پنجابي یو لښکر جوړ کړ ښه دې څخه وروسته د وکارول له دي پښتون کوونکو په وړاندې یې د ملت د هندوستان او د جنګول د انګرېزانو په شان د نانځکو په راجاګان او نوابان وو چې ریاستونو کې لاسپوڅي هندوستان په ۵۲۰ کارول انګرېزانو د ملتونو پر ضد او لوبېدل لاس کې

**سند**

سند د افغانستان اړوند یو ولایت و چې سمندر سره یې لار درلوده. انګریزان له اتلسمې پېړۍ څخه رادې خوا په دې لټه کې وو چې په دغه ولایت کې واك ومومي او ځانته لاره پیدا کړي او سوداګري پکې پیل کړي آن دا چې دوی په ۱۷۵۸ کې وکولای شول چې د احمد شاه ابدالي په دوره کې د سند د والي غلام شاه په واسطه په تته او شاه بندر کې څو تجارتخاني جوړې کړي. خو زمانشاه ابدالي سند اړ کړ چې انګریزان وشړي. وروسته د زمانشاه له پرځېدلو څخه په افغانستان کې کورني اړ دوړ جوړ شو. او میر غلام علي تالپور د سند میر په ۱۸۰۳ کې په خپله د بمبئ له ګورنر څخه غوښتنه وکړه چې انګلیسي سوداګر سند ته راشي. خو ګورنر د پخوانیو زیانونو د ورکړې غوښتنه کوله. په ۱۸۰۸ کې چې کله کمپنۍ له ناپلیون څخه په وېره کې ولوېده، کپتان دیوت ستن د سند پلازمینې حیدر آباد ته راغی او له میر غلام علي سره یې یو اوه فقره یې تړون لاسلیك کړ (۱۸۰۸ – د جولای اتمه). ددغه تړون په لومړي توك کې راغلي و چې د یوه دوست او دښمن کتې مټ د بل دوست او دښمن دی. په دوهم توك (فقره) کې یو بل سره د نظامي مرستو ژمنه شوې وه. په پینځم توك کې ویل شوي و چې د کمپنۍ یو مامور به د سند دربار ته راشي. اوم توك حکم کاوو چې تته ښار کې به یوه انګریزي سوداګریزه ځانګه جوړه شي.

په بل کال باندې د انګریزانو وېره له روسیې او فرانسې څخه لازیاته شوه، مستر (هانکي سمت) له میر غلام علي، میر کرم علي، او میر مراد علي (د سند حاکمان وو) سره یو بل څلور توکیز تړون لاسلیك کړ چې د هغه د څلورم توك له مخې په سند کې د فرانسویانو مېشت کېدل تحریم شوي و (۱۸۰۹ – اګست).

د ناپلیون د ګواښ په له منځه تلو سره انګریزانو د الفنستین په واسطه له میر کرم علي او میر مراد علي سره یو بل نوی تړون لاسلیك کړ چې څلور توکونه یې لرل. د هغه په دریم توك کې راغلي و چې: په سند کې به هیڅ اروپایي ته داوسېدلو حق نه ورکول کېږي. (۱۸۲۰ – نوامبر). دولس کاله وروسته بیا هنري پاتنجر د ۱۸۳۲ کال د جون او اپرېل په میاشتو کې له مراد علي او میر شیر پوره سره یو بل تړون لاسلیك کړ. د هغه په دریم توك کې راغلي و چې د سوداګریزو بېړیو پر مخ به د وچې او سمندرونو لارې پرانستې وي. څلورم توك ویل چې: هغه وارداتي مالیات چې سند یې اخلي د انګریزانو د استازي د تائید او لایحې سره سم به وي او د بېړیو د هر خروار بار مالیه نولس روپۍ وټاکل شوه چې له هغو څخه یواځې اته روپۍ یې د سند حکومتونو ته رسېدلې، پاتې نورې د انګریزانو. لاهور او بهاول خان تر منځ وېشل کېدې. له دې څخه بیا شپږ کاله وروسته (د ۱۸۳۸ په اپریل کې) پاتنجر له میر نور محمد او میر نصیر سره یو بل تړون لاسلیك کړ چې د هغه د دوهم توك له مخې د انګریزانو وزیر مختار په سند کې مېشت شو او هر بل ځای کې یې هم که غوښتي وای اوسېدلی شو. هغه ته د ساتونکو ګارد اجازه هم وه چې شمېر یې د انګلیسي د حکومت له خوا ټاکل کېد. الکساندر برنس په همدغه کال له میر رستم میر خیرپور سره یو تړون لاسلیك کړ. د هغه په نهو توکونو او یوه نښلونه کې راغلي و چې: میر رستم او د هغه اولادونه به د انګریزانو تابع وي او د هغوی په مطابعت او خوښه به کار کوي له بل هیڅ کوم سردار

Scanned by CamScanner

سره به اړیکي نه نیسي او یواځي له خپلو دوستانو او خپلوانو سره به د لیک لېږل رالېږل کولای شي[۱] میر به په هیڅ ظلم نه کوی که نه شخړه به یې د انګلیسي حکومت په لاس هواریږي، خو انګلیس به د میر په ضد د خلکو کوم شکایت ته غوږ نه ږدي. انګلیس به د اړتیا پر مهال میر سره نظامي مرسته کوي د انګرېزانو وزیر مختار چې په هر ځای کې وي او هر ځای چې وغواړي تلای شي. د انګلیس حکومت څومره محافظ ګارد چې وغواړي دغه وزیر مختار ته یې ګومارلی شي. د جګړې پر مهال انګلیس کولای شي چې د بهکر کلا ونیسي. یو کال وروسته (۱۸۳۹ - فروري) انګرېزانو د میر نور محمد له دوو نوکرانو (خیر محمد او سینا) او حاصل بن بچه خان (چې د کرانچي د کلي دګورنر په توګه و) سره یو بل تړون لاسلیک کړ چې د هغه د لومړي توك له مخې دغه ګورنر (حاصل بن بچه) به د کرانچي کلا او کلی انګرېزي لښکر ته ورکوي. دغه عجیب تړون د هند د سپهسالار (سر فریدریك مت لند) او په سند کې د میشت قوماندان (برګدیر ویلنت) له خوا د ولسلې په بېړۍ کې لاسلیك شو دی. دا مهال ددې وخت رارسېدلی و چې د انګرېزانو د سیاسي غنې دغه تارونه د سند د اسارت په مطلق زنځیر او بې قیده بنده ګي بدل شي. نو ځکه لار د اکلند د همدې کال په فروري کې د سند له میرانو (میر نور محمد، میر نصیر محمد میر محمد او میر صوبدارخان) سره یو بل کلك تړون په ۱۴ توکو کې لاسلیك کړ، چې د هغه له مخې: د انګوېزانو پنځه زره کسیز پوځ به په سند کې مېشت کېږي. ددغه پوځ لګښت به د سند د میرانو په غاړه وي. د میرانو په ضد د رعیت ژړا ته غوږ نه نیول کېږي، د میرانو تر منځ شخړه به د انګرېز د استازي په منځګړیتوب هواریږي، کله چې رعیت یو پر بل ظلم او تېری وکړي د هغو سزا به انګرېز ورکوي. د سند میران به درې زره سندي سرتېري د انګرېزي افسرانو تر امر لاندې په خپله د سند په لګښت ګوماري. په سند کې به د پیسو د کونډه کولو کار ځای جوړ او د کمپنۍ پیسه به چلند کې لوېږي. د سند په سیند کې به له بېړیو څخه او انګرېزي لښکر کوټونو نه به له واردېدونکو توکو څخه مالیه نه اخیستل کېږي.

ددغه (دوستانه) تړون په پای کې ویل شوي و چې: ددغه تړون حکم د دواړو لوریو تر منځ تلپاتې، میراثي او بدلون نه منونکی دی (!)، خو کله چې په ۱۸۴۱ کال په جون کې یې له میر شیر محمد خان میر پور سره هم همداسې یو تړون لاسلیك کړ، په ۱۸۴۲ کې په دغه نه بدلېدونکي میراثي او تلپاتې تړون کې، له میرانو سره یوه بل تړون کې بدلون راغی او په دولسو توکونو کې لاندې ټکي راغلي وو: له ۱۸۴۵ کال څخه وروسته د سند له میرانو څخه د کونډه، کولو حق اخیستل کېږي او په ټول سند کې به د کمپنۍ سکه چلیږي، د تهته او کراچۍ بندرونه د انګرېز په واك کې ورکول کېږي. له تهته څخه تر کراچي پورې د ګرځېدو راګرځېدو حق انګرېزانو پورې اړه لري. د سند د سرحداتو حکومت به انګرېزانو ته ورکول کېږي. د سند یو څه ځمکي به د بهاولپور نواب (د انګلستان مطیع نواب) ته ورکول کېږي. کټ مټ همداسې یو تړون د خیرپور له میرانو سره هم لاسلیك شو. په دغه تړون کې دا هم ورزیات شول چې د خیرپور د میرانو یوه برخه خاوره به د بهاولپور نواب ته او د سکهر ښار او د بهکر ټاپو او یو شمېر نور ټاپوګان به د انګلیس حکومت ته ورکول کېږي.

Scanned by CamScanner

په دې توګه له ۱۸۰۸ څخه تر ۱۸۴۳ پورې د ۳۴ کلونو په ترځ کې د سند ولایت د یوه سیاسي، اقتصادي او نظامي محبس په توګه د انګرېزانو واک ته ولوېد. خو د سند کار په همدې ځای پای ونه موند. کله چې د انګرېز لومړی یرغل په افغانستان باندې وشو او دوی ناکام شول او اردو یې تباه شوه، له افغانستان څخه د بېرته ګرځېدو په لاره کې یې د خپل پاتې حیثیت د ساتلو لپاره وغوښتل چې د سند ناوخوا کوم کوچنی ولایت ته ګوزار ورکړي. نو ځکه یې په ۱۸۴۳ کې خپل لښکر د سند د حیدرآباد (د میر رستم مرکز) خواته ورسم کړ. د سند خلکو چې په افغانستان کې د خلکو په زور د انګرېزانو ماتېدل ولیدل او ډاډمن شول چې انګرېز هغسې هم نه دی لکه چې ځان نه ماتېدونکی بولي. نو پاڅېدل او په ډېره مېړانه یې دفاع وکړه. البته د یوې لویې امپراتورۍ په وړاندې د یوه کوچني ولایت دفاع ډېره ستونزمنه وه. نو ځکه انګرېزان وروسته تر دوو جګړو وربانديې بریالي شول او سند یې تول ونیو. د سند میران یو په بل پسې بندیان شول او ځیني یې تبعید (له وطن څخه لرې وشړل شول) او شتمنې یې د انګرېزي افسرانو تر منځ ووېشل شوه. په دې کې یو نیم میلیونه د لښکرو قوماندانو او دولس نیم میلیونه د نور لښکر برخه ورسېده. په دې توګه د انګرېز (دوستانه او عادلانه) سیاست یو بل دوست هم له ستوني تېر کړ. دې پسې یې د هند یوه بل وفادار او وروستي دوست (پنجاب) ته خوله پرانسته.

د انګرېزانو یو افسر چې لا یې وجدان ژوندی و او انساني عاطفه یې نه وه مړه (کپتان ایستوك) په ۱۸۴۲ کال کې پر سند باندې د دغې خاینانه حملې په هکله د کمپنۍ مقاماتو ته داسې ولیکل: د سند میرانو ټول کړه وړه ښکاره کوي چې دوی دفاع ته ځان چمتو کوي... هیڅوك نشي کولای چې دغه بدمرغه میران په دې تورن کړي چې دوی لومړی تېری کړی. دغه تور د ټولو شواهدو او احتمالاتو برخلاف دی. مګر دا چې قصداً ور څخه تغافل وشي... زه د تېر اپرېل په څلورمه د لندن د عوامو په ډېرو مجلس کې وم. یوه لارد داسې وویل: د انګرېزانو یو مټ په ختیځ او بل په لوېدیځ کې دی، په ډېرو پښو کې ټول اخلاقي او مذهبي مسئولیتونه تر پښو لاندې کوي. که چېرې زمونږ راتلونکې پالیسي په همدې ډول وي او که چېرې په وسله، علم، هنر او قوت کې اوچتوالی او مخکښوالی د بشریت لپاره د ګټې پر ځای د بشریت په ضد تمام شي زه دا غوره بولم چې مونږ... یو دریمه درجه قوت ته راټیټ شو...)[1]

د دغه ډول ډېر لږ شمېر رښتیا ویونکو خلکو مثالونه او بېلګې د انګرېزي ښکېلاك د سیاست په آسمان کې د تتو او لږ رڼا لرونکو ستوریو په شان دي چې غوښتل یې دي چې خپلو راتلونکو نسلونو ته د قضاوت یوه کوچنۍ دریڅه پرانیزي، تر څو راتلونکي داسې ګومان وکړي چې د تاریخ د یوې اوږدې دورې په ترځ کې د انګرېزانو په حاکمه طبقه کې هیڅ کله انساني وجدان نه و موجود او دا هغه څه و چې دوی د انګرېز تاریخ ته وکړل.

---

[1]- د پښتو تاریخ، دوهم ټوک ۶۸ مخ.

## پنجاب

تر اتلسمې پېړۍ پورې پنجاب د هندوستان یوه برخه او د هند د بابري دولت سیمه وه. وروسته له همدې پېړۍ څخه د افغانستان د ابدالي دولت یوه برخه شو او د نولسمې پېړۍ تر پېل پورې د افغاني حکامو په لاس اداره کېده خو هماغه د بابري دولت له مهاله یو نوی ځواک رامنځته کېدونکی و چې په پنجاب کې د سکهـ د مذهبي بنې په لرلو سره یې وده ومونده او په سیاسي غورځنګ بدل شو. د سکهـ د طریقې بنسټ ایښودونکی (نانك) نومېد چې په شپاړسمه پېړۍ کې له هند څخه راپورته شو. ده غوښتل چې د هندو او اسلام دینونو تر منځ تضاد په یوه نوي جوړښت سره له منځه یوسي او دواړه یو بل سره پخلا کړي. هغه له دواړو دینونو څخه ځینې برخې را واخیستې او د سکهـ نوی مذهب یې ور څخه جوړ کړ. د هغه اسلامي تسپې په لاپ کې او هندو یې قشقه یې په تندي باندې وه. هغه توحید منلی و او د اسلامي شریعت منطوقه چارو باندې یې عقیده وه او هندو یې دیوت، اوتار، دیوي او تناسخ (خود مخلوق په صفت) باندې عقیده لرله. هغه حلول، اتحاد، بت، بتخانه، شراب، د خنزیر غوښه او د ځارویو ځورول حرام وبلل. اشعار یې په پنجابي جټ ژبه و چې ټول له پند او نصیحت څخه ډك و او د خدای تعالي حمدونه پکې و او یو شمېر ځمکې او اسمانونه یې ښودل. بابري دولت دغو بې آزاره او آرامه سکانو سره کوم کار نه درلود او مزاحمت یې ونه کړ، خو ورو ورو سکهـ پیروان په مذهب کې متعصب او حلول ته مایل شول او د غوښې خوړلو باندې یې هم پیل وکړ. ورو ورو نانك خلفا (په نانك پسې وروسته نور مذهبي مشران) د سیاست ډګر ته ور ګډ شول، ورو ورو یې خزانه، پوځ، غوجلې او مامورین ومونډل. اورنګزېب په سکانو پسې راواخیسته او د هغوی یو خلیفه (تیغ بهادر) یې اعدام کړ. د اورنګزېب فشار ډېر شدید و، نو ځکه سکهـ پیروان د همالیا غرونو ته وتښتېدل او د ځان ساتنې لپاره یې وسلې پیدا کړې. هغوی د اورنګزېب له مړینې وروسته بېرته راستانه شول او د یو ځواك په توګه یې په شمالي هند کې ځان را څرګند کړ. سره له دې چې د وخت د دولتونو له خوا سکان له سیاسي پلوه په پرله پسې توګه ټکول کېدل، خو تسلیم کېدو ته یې غاړه نه کېښوده، آن دا چې دوی د پنجاب د ملي زړورتیا تر څنګ مذهبي اړخ هم ور اضافه کړ.

افغان زمانشاه چې له اروپایي ښکېلاکګرو څخه د هندوستان د خلاصون هوډ کړی و، کله چې په ۱۷۹۹ کې لاهور ته ورغی، نو د سکهـ، هندوانو او مسلمانانو د یو موټي کولو لپاره یې د پنجاب حکومت د پنجاب یوه زړور او فعال مشر (رنجیت سنګهـ) ته ورکړ، خو خپله د هېواد دننه اړ دوړ د غلي کولو لپاره راستون شو او بیا یې دا وخت ونه موند چې هندوستان ته ورشي او خپل پروګرام بشپړ کړي. په دې توګه د رنجیت د فعالیت ډګر په پنجاب کې پراخ شو. رنجیت په دولس کلنۍ کې د پلار ځای ناستی شوی و، په اولس کلنۍ کې یې خپله مور وژلې وه او په نولس کلنۍ کې په پنجاب کې د زمانشاه والي شوی و، له دې امله چې له هغې څخه وروسته افغانستان د کورنیو جګړو په سیلاو کې ډوب شو، نو افغانستان دې ته وزګار نشو چې یو ځل بیا پنجاب ته سر ور هیسته کړي، له بلې خوا د هند په بابري دولت هم له پښو لوېدلی و، مهمه دا چې انګرېزانو هم د خپل واك د ښه ټینګولو لپاره د هند په

بېلا بېلو برخو کې خان بوخت کړی و. نو رنجیت ته د هر ښه وخت په لاس ورغی او له مساعدو شرایطو څخه په استفادې یې د خپل ښه استعداد او ځواك او هوښیارۍ په برکت د هندوستان په شمال کې د یوه دولت طرح جوړه او عملي یې هم کړه. په زرګونو سکهـ جګړه مار دډغه سړي تر توغ لاندې راټول شول او ورځ په ورځ یې ددغه نوي جوړ شوي دولت کړی پراخه کړه. انګرېزان چې د افغانستان له لوري د هر په وېره کې وو، غوښتل یې چې د پنجاب له موجوده وضعیت څخه ګټه اوچته کړي. نو ویې غوښتل چې سکهـ حکومت د افغانستان او هندوستان تر منځ د یوه سپر (بفرستیت) په توګه وکاروي. نو ځکه یې له ۱۸۰۰ م. څخه تر ۱۸۰۸ پورې څلور ځله استازي له بېلا بېلو سوغاتونو او خوشامندونو سره رنجیت ته ورغلل او هغه سره یې دوستانه خبرې - اترې وکړې. دېوان امرنات د رنجیت سنګهـ د سوانحو لیکوال په خپل کتاب کې د انګرېز ددغو استازیو د راتګ په هکله لیکي [۱] د انګرېزانو لومړنی استازی منشي یوسف علي او وروستی استازی یې چارلز متکاف و. چې ورسره څو آسونه، پیلان، ګاڼې او رختونه وو. انګرېزانو دا مهال رنجیت د پنجاب د خپلواکۍ ټینګولو او هند ته د افغانانو د ځواکونو د ورننوتلو د مخنیوي په برخه کې هڅاو او په ضمن کې یې له هند څخه دا ژمنه هم تر لاسه کوله چې د ستلج له سیند څخه د هند په موخه پورې نه وځي. د رنجیت حکومت له هماغه پیل (۱۸۰۳) راهیسې یو شمېر هندي داوطلب افسران پنجاب ته ورغلل چې په پنجاب کې یو قوي اردو جوړ کړي. همدارنګه په کمپنۍ پورې تړلې د څلوېښتو شاوخوا اروپایي افسران هم د سکهـ د اردو په ښستې اینودلو کې ورګډ شول. رنجیت ددغو افسرانو په مرسته وکولای شول چې د هر ژر یو اتیا زریز اردو چې په ۳۷۰ توپونو سمبال و جوړ کړي. رنجیت چې د زمانشاه له خلع کېدو څخه وروسته خپل ځان د (سرکار والا) په نوم خپلواك اعلان کړ. یوه نوې سکه یې کونډه کړه چې یوولس ماشه وزن یې درلود او وربانديې لیکل شوي و:

دیګ و تیغ و نصرت بې درنګ
یافت از نانك. ګرو ګوبند سنګ

سره له دې چې سکهـ دولت په پیل کې زیاتره مذهبي ښه درلوده، خو د هر ژر د هندوستان د ټولنیز واقعیت تر اغېزې لاندې په ملي ښه واوښت، دا ځکه چې لا تر دې مهاله پورې د انګرېزانو تبلیغ او ښوونې او روزنې د هندوستان ملي روح او ملي څېره نه وه بدله کړې. د پنجاب د حکومت اداري چارې پرته له کوم مذهبي تبعیض څخه د هندو، مسلمانو، سکهـ او ټولو قومونو په لاس کې په شریکه پر مخ بېول کېدې. د بېلګې په توګه د مسلمانانو قضایي محکمې د قاضي نظام الدین، مفتي محمد شاه او مفتي سعدالله چشتي ته سپارل شوي وې، د لاهور پلازمېنې کوتوالی (امنیتي قوماندانی) امام بخش خان ته چې په خرسوار مشهور و، سپارل شوې وه. د درنو توپونو قوماندانې غوثي خان ته ورکړل شوه او د پیاده نظام لوی افسران، روشن خان او شیخ عبدالله هندی وو. د دربار طبابت او په خپله د مهاراجا رنجیت طبیب مسلمانان وو لکه خلیفه نورالدین حکیم او عزیزالدین انصاري. په دې توګه د پنجاب دولت د هر ژر ځواکمن شو، آن دا چې په ۱۸۰۵ کې د مرته وو مات شوی مهاراجه (جسوت سنګهـ

---

۱- د ظفرنامه رنجیت کتاب، د امرنات تالیف، د لاهور چاپ، ۱۹۲۸ کال.

Scanned by CamScanner

هولکر) په خپله د رنجیت دربار ته راغی او له هغه څخه یې وغوښتل چې له ده سره یو نظامي اتحاد جوړ کړي تر څو له هند څخه انګریزان وشړي. دا مهال انګریزان په وېره کې شول او د بیاس سیند تر غاړې پورې یې د جنرال لیک تر مشرۍ لاندې یو لښکر راولېږ او نامتو کپتان مالکم یې د استازي په توګه د رنجیت دربار ته ولېږ او له رنجیت څخه وغوښتل شول چې د یوسف علي منشي (پخواني سیاسي هیئت) په استازیتوب لاسلیك شوی قرار داد رعایت شي او هم دې هولکر له پنجاب څخه وایستل شي. رنجیت پخوانیو ژمنو ته چمتووالی وښود خو د هولکر په هکله یې وویل چې هغه یوازې یو پناه غوښتونکی دی، نو ځکه یې هغه له پنجاب څخه ونه ایست. سمدستي انګرېزان قانع شول او ورپسې بیا په ۱۸۰۸ کې یو بل پلاوی رنجیت ته راغی او د دوستۍ یوه بله غوټه یې ور تړله. له بلې خوا انګرېزانو د لودهیانه له راجا (بهاك سنګهه) سره خبرې پیل کړې وې. او یوه اندازه ځمکه یې په لودهیانه کې په اجاره واخیسته هلته یې نظامي لښکرکوټ جوړ کړ او څلور پلې او سپاره کنډکونه یې د کلنل (لوني اختر) تر قوماندې لاندې هلته میشت کړل. په ۱۸۰۹ کې فراري شاه شجاع له رنجیت سره د کتنې غوښتنه وکړه. رنجیت په خپله د هغه د هرکلي لپاره د اټك تر غاړې پورې ورغی او په ۱۸۱۰ کې له هغه سره یو ځای لاهور ته ولاړ. کله چې د افغانستان دننه اړ-دوړ څخه خبر شو، په ۱۸۱۲ کې یې په اټك کې د افغاني نظامي کلا، په ۱۸۱۸ کې یې د ملتان ولایت، په ۱۸۱۹ کې یې د کشمیر ولایت او په ۱۸۲۱ کې یې غازي خان ډېره او اسمعیل خان ډېره ونیول او ټول یې د افغاني ساتونکو له لاسه وکښل، دا ځکه چې شاه محمود ابدالي، وزیر فتح خان او د وزیر ورونو افغانستان په ملوك الطوایفي بدل کړی و او مرکزي دولت یې د خپلو شخصي غرضونو څخه قربان کړی و. په ۱۸۲۲ کې کلنل (ونتورا) (د ناپلیون د له منځه تللې اردو یو افسر) د ایران له لارې کابل ته راغی، کله یې چې افغاني دولت د اړ-دوړ په بدحال کې ولید، پرته له دې چې افغاني پاشان اردو ته کوم خدمت وکړي، لاهور ته ورغی او خپل نظامي تخصص یې د رنجیت خدمت ته وړاندې کړ، رنجیت خپل اردو کې ومانه. له دې امله چې رنجیت پوه شو چې دغه کلنل دده اردو عصري کولای شي نو دغه کلنل ونتورا یې د خپلو څلورو غونډونو د جنرال په توګه مقرر کړ او یو کال وروسته یې بیا پېښور په همدغه ځواك باندې ونیو. په دې توګه د څو کلونو په ترڅ کې د سند د سیند دښي غاړې ټول افغاني مهم ولایتونه له لاسه ووتل. په ۱۸۳۲ م. کال کې (سر کلود مارتین وید)[۱] د انګرېزانو یو یرغلګر افسر په سند کې په ډېر پرتم سره پنجاب ته راغی. رنجیت په خپله د هغه د هر کلي لپاره د ستلیج غاړې ته ورغی او هغه ته یې په پرتم سره ښه راغلاست ووایه او امر یې وکړ چې ټول پنجابي افسران دې (بسنتي) دریشي ګانې (ژېړې جامې) واغوندي. له هغې څخه وروسته رنجیت په سیده توګه د همدغه (وید) تر اغېزې لاندې راغی او وید هیڅکله ور څخه نه جلا کېد تر څو چې رنجیت ډېر ژر مړ شو. وید د افغانستان یو کلك دښمن او یو مفسد شخص و. شپږ کاله وروسته (په ۱۸۳۸ م. کې) رنجیت سنګهه له شاه شجاع سره د لاهور د درې اړخیز تړون (مخلوع شاه شجاع، انګرېز او رنجیت) په ترڅ کې وید هم شامل کړ چې افغانستان ته د پوځونو په لېږلو سره د افغانستان یو لوی دښمن

[۱]: Sir Clude martin wade

وګرځېد. د همدغه تړون له مخې انګرېزانو د سیند په ښي غاړه کې د افغانستان نیول شوي ولایتونه رسماً رنجیت ته ورکړل، خو کله چې د رنجیت مرستندوی پوځ کابل ته ننوت، په خپله لکه د میسور د سلطان حیدر علي په شان په داسي حساس وخت کې مړ شو چې مرګ یې د انګرېزانو په ګټه تمام شو، حال دا چې هغه له ۵۷ کلنۍ څخه نه و اووښتی. له دې څخه وروسته پنجاب اور واخیست او دولت او ثبلواکي یې له منځه ولاړه. د رنجیت له مړینې وروسته شاهي کورنۍ وچاوده، د پنجاب ځواکمنه اردو چې د دغه هېواد ډلوښتو کالو زیار حاصل و په خپله د پنجاب په ضد وکارول شوه. د رنجیت مشر زوی او د هغه ځای ناستی (کړک سنګه) یوازې یو کال سلطنت وکولای شو، حال دا چې د هغه زوی (نونهال سنګه) د پلار په اقتدار کې لاس اچولی و، کړک سنګه د ۱۸۴۰ م کال په نوامبر کې ومړ او نونهال سنګه چې کله د پلار له مړینې وروسته د سلطنت د تخت د نیولو لپاره د ارګ دروازې ته راغی د دروازې د سرکنګرې ورباندې راولوېدې او مړ شو. د کړک سنګه ځای ناستې (ملکه راني چندر کور) وروسته تر څلورو میاشتو پاچاهي څخه د درباریانو په لاس بندي او بیا په زندان کې ووژل شوه. د رنجیت دوهم زوی شیر سنګه د خپلې پاچاهي په څلورم کال (۱۸۴۴) د هغه له لس کلن زوی سره د لاهور له ښار څخه بهر د خپلو لویو درباریانو (دهیان سنګه وزیر، لهنا سنګه، راجت سنګه) په لاس د تفریح پر مهال ووژل شول. د مقتول د وزیر زوی هیرا سنګه د پلازمېنې پوځ د کسات اخیستو لپاره پاڅا واو لهنا سنګه او اجیت سنګه یې ووژل. د لاهور پوځ د رنجیت سنګه دریم زوی دلیپ سنګه د پاچا په توګه او هیرا سنګه د وزیر په توګه رامخکې کړل، خو وروسته بیا دغه وزیر هم ووژل شو او ځای یې خزانه ساتونکي لعل سنګه ته ورکړ. لعل سنګه هم وهڅول شو چې د اردو د بوخت ساتلو په خاطر له ستلج څخه په پورې هندوستان باندې یرغل وکړي، دا هماغه وضعیت و چې انګرېزانو یې غوښتنه او هیله درلوده او تمه یې وه، چې د خپل وفادار دوست پنجاب لپاره یوه بهانه لاس ته ورشي. په دې توګه د ۱۸۴۵ په نوامبر کې د پنجاب پوځ له ستلیج څخه پورې وت او هلته د ګورنر جنرال لارډ هاردنګ پرځونه مخې ته ورته راغلل. د پنجاب لښکر په لومړۍ جګړه کې خپل ۱۷ توپونه، په دوهمه جګړه کې ۷۳ توپونه او لعل سنګه وزیر، په دریمه جګړه کې ۵۰ توپونه او په څلورمه جګړه کې یې خپل نامتو جنرال شام سنګه له لاسه ورکړل. دغه ټولې جګړې د درې اونیو په ترڅ کې (د ۱۸۴۵ په پای او د ۱۸۴۶ په پیل کې) تر سره شوې. په داسي حال کې چې د پنجاب نامتو اردو خپل ټول درانه توپونه او په زرګونه سرتیري او افسران له لاسه ورکړي وو، د انګرېزانو لښکر لاهور ته ننوت او د ولسلي غاړه کې یې د خپل پخواني دوست (پنجاب) په غاړه کې ور واچوله. د ستلیج او راوي تر منځ ټولې ځمکې او د افغانستان هغه غربي ولایتونه چې رنجیت سنګه غصب کړي وو، انګرېزانو تر لاسه کړل،د پنجاب د کورنیو چارو د څارنې لپاره استازي او د هغو مرستیالان (د زیدنت او استنت) وټاکل شول. په دې کې افغاني خاوره لکه پېښور، بنو او ډېره جاتو کې هم جارج لارنس او هربرت د وارد وګومارل شول. وروسته وروسته بیا همدغه لارنس د هند ګورنر جنرال مقرر شو. پنجاب دښمن ته ډېرې زیاتې پیسې د جګړې د تاوان په بهانه ورکړې او په پای کې انګرېزي پوځ په ټول پنجاب کې ځای پر ځای شو.

د انګرېزانو د درې کلن فشار له امله په پنجاب او افغاني غصب شویو ولایتونو کې د خلکو پاڅونونه پیل شول. د پېښور، چچ او هزاره افغانان پاڅېدل. شیر سنګهـ په پنجاب کې د عسکرو په راټولولو پیل وکړ، په ملتان کې خلکو دوه انګرېزان ووژل او داسې نورې پېښې.

کله چې جورج لارنس دا حال ولید. له خپلې ښځې سره یو ځای د لاهور په شاهدره کې د سردار سلطان محمد خان (چې په طلایي مشهور و) په کور کې پټ شو، خو سردار دواړه سکهانو ته وسپارل. دا ځکه چې کله چې سکهـ د انګرېزانو په وړاندې خپل ضعف ولید، نو افغانستان ته یې پام اړولی و او د سلطان محمد خان په واسطه یې له امیر دوست محمد خان څخه د انګرېزانو په وړاندې مرسته غوښتې وه او د سند د ښي اړخ د غصب شویو ولایتونو د بېرته ورکولو وعده یې کړې وه.

سلطان محمد خان دغه مراتب ټول کابل ته ولیکل او د ځواب په تمه و. امیر دوست محمد خان د خلکو تر فشار لاندې اړ شو چې د افغاني له لاسه وتلیو سیمو د بېرته تر لاسه کولو په خاطر له لښکر سره تر اټک پورې ولاړ شي، خو د اټک له کلا څخه وړاندې نه ولاړ. هغه یو پنځه زره کسیز پوځ د خپلې کورنۍ د دریو غړو (سردار محمد اکرم خان، سردار شمس الدین خان او سردار شاه دوله خان) په مشرۍ د ګجرات د جګړې ډګر (د جیلم او سند تر منځ) ته ولېږل. په همدغه ځای کې شیر سنګهـ او جتر سنګهـ د پنجاب له پوځ سره اخته وو اود هغو په وړاندې کلنل هربرت ادوارد و چې مخکې یې لا په درې جګړو کې د ملتان پاڅون مات کړی و.

د ۱۸۴۹ د فرورۍ په ۲۱ مه د ګجرات جګړه کې پېښه شوه او سردار محمد اکرم راوتښتېد، شیر سنګهـ چې په یواځیتوب له انګرېزانو سره جګړه نشوه کولای زړه یې بایلود، راولپنډۍ ته ولاړ او دښمن ته تسلیم شو. په همداسې یو وخت کې چې انګرېزان له امیر دوست محمد خان او افغاني پوځ څخه په وېره کې و، ناڅاپه خبر شول چې امیر دوست محمد خان پرته له کوم نظامي اقدام یا سیاسي فعالیت څخه غلی له پېښور څخه جلال آباد ته او له هغه ځایه کابل ته ستون شوی دی، یعني نه یواځې دا چې پنجاب یې بې له کومې مقابلې انګرېزانو ته ورپرېښود، بلکې افغاني ولایتونه یې هم بې له خاوند څخه مفته دښمن ته ورپرېښودل، په داسې حال کې چې نور نو د سکهـ دولت په پنجاب کې کوم واقعي او خارجي وجود نه درلود، بلکې بشپړ ویجاړ شوی و او دا مهال لا انګرېزانو هم په دغه سیمه کې ګام نه و ایښی او د پښې ځای یې نه درلود. په حقیقت کې دا د امیر دوست محمد خان یوه ډېره لویه تېروتنه وه چې بیا نو د یوې پېړۍ په ترڅ کې هم تلافي او جبران نه شوه او هغه طلایي فرصت چې له لاسه ووت بیا افغانانو ته په لاس ورنغی. د هند ګورنر جنرال لارډ د الهوزي چې میدان دومره آسانه تش ولید او د هندوستان وروستۍ دولت یې هم له منځه تللی ولید، نړۍ ته یې د پنجاب د دولت پرځېدل اعلان کړل او لارنس د چیف کمشنر په منصب سره د پنجاب د هېواد حکمران شو، د رنجیت زوی دلیپ سنګهـ لندن ته تبعید شو او کشمیر لا مخکې د ګلاب سنګهـ تر مشرۍ لاندې جلا شوی و. له دې وروسته د پنجاب اردو د نیواکګر بهرني ځواک د اردو یوه برخه شوه او د خپلو هېوادوالو د ټکولو لپاره ترې کار اخیستل پیل شول. اوس نو د هند انګرېزي حکومت د رنجیت د میراث خور په توګه د افغانستان دېوال په دېوال

Scanned by CamScanner

ګاونډي شو او د سند د درياب د ښي اړخ ټول افغاني ولايتونه يې هم غصب کړي وو. په دې توګه يې ټول سياسي او نظامي فشار د افغانستان پر اوږو راته او افغانستان له سلو کالو څخه د زياتې مودې لپاره د انګرېزانو د درنو ګوزارونو لاندې راغی او ډېرې زياتې ټولنيزې ناخوالې يې وګاللې او مادي او معنوي زيانونه ور واوښتل. که چېرې د افغانستان ګاونډي هېوادونه کلک وای او دغه دولتونه يو بل سره د سيالۍ او دښمنۍ پر ځای يو موټی وای، اروپايي ښکېلاک او نيواکګر ځواکونه دومره آسانه په منځنۍ آسيا او د هند په نيمه وچه نشو حاکم کېدای او د دغو هېوادونو خپلواکي يې تر پښو لاندې نشوه کولای. دا ځکه چې د دغو هېوادونو يووالی د ټولو په ګټه و او د يوه. ضعف پر بل باندې هم ناوړه اغېزه کوله. که چېرې د هند او پنجاب حکومتونه لړزان او ښوييدونکي نه وای. انګرېزي ښکېلاک تر افغانستان پورې په آسانۍ سره لاره نه شوه موندلای. که چېرې د منځنۍ آسيا هېوادونه يو بل سره دوست او يو موټی وای، نه ايران، نه روسيې، نه هند او نه افغانستان له انګرېزانو څخه دومره صدمه ليده او نه دغه هېوادو ته د لوېديځ استعمار دومره زيان اوښت. هيڅ ناشونې نه وه چې دغه هېوادونه به بر خلاف د تاريخ په بهير کې په همدا سې يو دريځ کې راشي او دا خل به پوه شي چې د دوی دوستي او يووالی د دوی د ملي ګټو او خپلواکۍ له پلوه حتمي ده. دغه يووالی او يو بل سره مرسته نه يوازې له سياسي پلوه، بلکې له اقتصادي او ټولنيز پلوه هم ضروري ده. که نه پرته له هغه که هر يو يې په يوازېتوب د خپل شتون په خاطر له يو بل سره سيالي او جګړه کوي، نو يو به د يوه لوی قدرت او بل به د بل په غېږ کې پرېوځي او د خپل ژوند بنسټ به د لويو قدرتو تر منځ د دښمنۍ له مخې کېږدي، خو دا په له سپکاوي ډکه او لنډ مهاله وسيله وي، کله چې دغه لوی قدرتونه يو بل سره سازش وکړي، نو دغه کوچني آسيايي هېوادونه به خپله تکيه ځای له لاسه ورکړي او هر يو به يې د نفوذ په يوه ساحه کې ورېشل شي. ښکاره حقيقت دا دی چې د نن ورځې بشريت له هغې وروستۍ مرحلې څخه لا ډېر وروسته پاتې دی چې په هغې کې به يو نړيوال آفاقي واحد دولت د وروري او برابري پر بنسټ جوړ شي. او دغه تباه کوونکي نړيوال کشمکشونه له منځه ولاړ شي، دا ځکه چې د نشنلزم لاملونه، په تېره بيا د لوېديزې نړۍ د ځواکمنو هېوادونو اوسنی نشنلزم خپل ځپ ځپاند پړاو کې دی. د اروپا دغه نشنلزم به په خپل وروستي بريد کې پرته له يوه قاره يې فاشيزم څخه بل څه نه وي. خو په هند کې د پنجاب له نيولو وروسته انګرېزانو د برما خواته مخ واړاو او په ۱۸۵۲ کې يې د پلازمېنې رنګون په ګډون د پيګورا سيمه ونيوله او په وچ زور يې وويل چې د برما خلك دومره د انګرېزانو په (عدالت) مين شوی و چې له انګرېزانو څخه يې هيله وکړه چې راشي او د دوی هېواد ونيسي. خو د دغه (عدالت) په وړاندې غبرګون په هندوستان کې د انګرېزانو په وړاندې د يوه وسله وال پاڅون په بڼه را ښکاره شو، همدا چې د هند نرم او سوله خوښوونکي خلك د انګليس صاحبانو لېږدېدونکي شتمني او د انسان له جنس څخه ټيټ او بنده او مرئي وګڼل شو (د صاحبانو اصطلاح انګرېزانو په هند کې خپله ځانته غوره کړې وه)، نو همدغه سوله خوښوونکي او نرم خلك هم د صاحبانو د عدالت څخه په تېښته شول او کرکه يې ور څخه ښکاره کړه او دوی وليدل چې انګرېزي ښکېلاك پرته له بېوزلي، د بېګناه خلکو وژني او جګړو څخه بل څه نه درلودل.

## د هند د خلکو غبرګون

په هند کې د انګرېزانو د پرمختګ او واك ټینګولو پر مهال د هند خلکو په سربښندني او ځان تېرېدني سره د انګرېزي ځواکونو په وړاندې جګړه وکړه. خو د هند ځواکمنو فیوډالانو چې د خپلو ګټو او واك ساتلو په خاطر له انګرېزانو سره جوړ جاړی کاو، ددې لامل شول چې د هند خلك له ماتې سره مخامخ شي. په واقعیت د انګرېزانو تېری او د هند د فیوډالانو جګړې یو بل سره یو شول او د هندوستان د محرومو خلکو د اکثریت د بربادي لامل شول. تر ټولو مخکې په هند کې مرته هندیانو او افغانانو یو بل ته لاسونه سره ورکړل او د امیر خان افغان او هندي چیتوي تر لارښوونې لاندې یې د (پنداري) په نومونو مبارز ګروپونه او سرغندونکي ډلې جوړې او په منځنۍ هند کې یې د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې په ګوریلایي جګړو سره انګرېزي ضد پاڅونونه پیل کړل. ددغو ملي مبارزانو او ننګیالیو شمېر ډېر ژر تر شپېته زرو هندو او مسلمان وګړو پورې ورسېد، د دوی له سربښندني ډکو عملیاتو انګرېزانو ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې، تر څو چې لارډ هستنګس نامتو ګورنر جنرال (۱۸۱۳ – ۱۸۲۳) یو لوی اردو کې ۱۲۰ زره سرتیري له مدراس، بمبی او بنګال څخه راټول او هغوی یې وسله وال کړل او د هند د ملي ننګیالو په ضد یې وجنګول. په پای کې انګرېزي ځواکونو وروسته تر ډېرو خونړیو جګړو څخه وکولای شول چې تقریباً ټول دغه ننګیالي ووژني، یواځې قادر خان وکولای شول چې په راجپوتانه کې د تونك په سیمه کې ځان د نواب په توګه وساتي. سره له دې چې په دغو ملي مبارزاتو کې ډېر سرغندوی ننګیالي قتل عام شول، خو هندوستان لا ځپاند شو. هندیانو لږ وروسته یو ځل بیا پټ تشکیلات جوړ کړل او په خرپ او ترپ تکتیك یې انګرېزانو ته خپل مخالفت وښود؛ دا ځکه چې پرته له دې بله لاره نه وه پاتې. دغه ډول یو ګوند یا تشکیل د (دا کویت) پټ سازمان و، چې د ګورنر جنرال لارډد بنتنك د واك پر مهال (۱۸۲۸ – ۱۸۳۵) کې را منځته شو. د داکویت ګوند غړو شهزاده ګان، لوی ځمکوال او سوداګر هم د هندوستان د ولس په لوټ کې شریك ګڼل او د انګرېزانو د لاسپوخو په سترګه یې ورته کتل، نو ځکه یې لومړی په همدوی باندې یرغلونه پیل کړل. دا کویت ډلې د برش یا ځلوښت کسیز ګروپونه وو چې د دروېزه (مسافرینو) جامې یې اغوستې، د شپې به د شتمنو خلکو کور ته ورغلل، د هغوی شتمنی به یې تر لاسه کړه او د دوی ودانۍ به یې وسوځولې.

یو بل دا ډول تشکیل (ټګ) بلل کېد، چې لس دولس تنه به په یوه ډله کې یو ځای و او د مسافرو په جامو کې به د نابللو مېلمنو په شان د شتمنو کورونو ته ورتلل او د هندوستان شتمن به یې ځنګلونو ته بېول، هلته به یې سرونه ورپرې کړل او شتمني به یې ورڅخه واخیسته. ټګ ډله زیاتره د هندوستان هغه تر ټولو بېوزله بزګران وو چې په کروندو کې یې کار کاو. دوی ځانته یوه ځانګړې ژبه کاروله او په اشاره به یې یو بل پوهول. انګرېزي حکومت د هندوستان د خلکو د دغو پاڅونونو په وړاندې غلی نه و ناست، بلکې ددغو تشکیلاتو په ضد یې اقدام وکړ او د اوو کلونو په ترڅ کې یې پنځلس زره ټګ کشف او ټول یې اعدام کړل. انګرېزان ورو ورو وپوهېدل چې په هند کې د دا ډول ډلګیو او تشکیلاتو رامنځته کېدل د یوه نوي توپان د پیل نښه ده چې د انګرېزانو د حرص او ظلم په ضد به په ټول هند کې ملي پاڅونونه وشي. په رښتیا

هم څه نا څه شل کاله وروسته د بنګېلاکګرو او نیواکګرو انګرېزانو په وړاندي همداسي یو توپان پیل شو د هندوستان د خلکو د انقلاب لومړنی څرك په ۱۸۵۷ کې د ډیلي د میروت په لښکر کوټ کې وځلېد او ډېر ژر تر لکنهو، بنارس، کانپور او د هند تر نورو برخو پورې پراخ شو. دا مهال د هر انګرېز عسکر تر څنګ شپږ تنه د هند سیمه ییز عسکر وو. لومړنی پیل همدوی وکړ. انګرېزانو داسي احساسوله چې که دغه اور په اور سره مړ نشي، نو په ټول هندوستان کې به د انګرېزانو واك او حکومت ته اور واچوي. د میروت د عسکرو قشلې یا د میروت لښکر کوټ لومړی خپل ټول انګرېزي افسران ووژل او بیا یې ټول بندیان خوشي کړل. د ډیلي خلك هم له دغه سرتېرو سره یو ځای شول د انګرېزانو ډاك لوټ او د تلګراف مزي وشلول شول. د انګرېزانو کورونه وسوځول شول. په دې وخت کې هندوانو د بابري کورنۍ یو د پاچاهي خاندان پاتې مسلمان غړی (بهادر شاه) د هندوستان د پاچا په توګه غوره کړ. په دې توګه د هند ملت نړۍ ته دا وښووله چې د هند خلك د هند اسلامي دولت د انګرېزي دولت په پرتله غوره بولي. د دغه سلطنت په جوړېدو سره په زرګونو هندیان هم مسلمانان او هم هندو او سکهـ او نور مرته. راجپوتانه، کشمیر، پنجاب، نېپال او نورو ځایونو څخه پلي او سپاره له سلګونه میله لرې واټن څخه راغلل او له انقلابیونو سره یو ځای شول. حال دا چې په شروع کې د میروت انقلابي عسکر یواځې ۱۳ زره تنه وو. دغو انقلابیانو پنځه میاشتې د هندوستان پر پلازمېنه واك درلود. په لکنهو کې هم ۲۳ زره تنو هندي سرتېرو پاڅون وکړ او زر تنه انګرېزي افسران یې ووژل او جنرال هانري لارنس یې د هغه له نورو انګرېزي ملګرو سره کلابند کړ. کله چې انګرېزي لښکر د جنرال هیولوك په مشرتابه را ورسېد، هغه هم کلابند شو. په بنارس کې هندي او سکهـ سرتېرو انګرېزي افسران تر اور لاندې ونیول. په کانپور کې د (دندوپانت) په مشرۍ (چې په نه نه صاحب مشهور و) انقلابي پاڅون کوونکو جنرال ویلر او د هغه ټول انګرېز ملګري بندیان کړل. په داسي حال کې لس زره انقلابیون له اګرې او ګوالیار څخه هم راغلل او دوی سره یو ځای شول. د هند په ګڼ شمېر نورو ښارونو کې هم ډله ییز پاڅونونه پیل شول. انګرېزان چې د خپل ژوند او مړینې په شېبو کې وو په خپل ټول وروستي قوت سره یې یو ۱۲ زریز پوځ چې ۴۰ توپونه یې لرل له کشمیر، پنجاب او مدراس او کلکتې څخه چمتو کړ او مخ په ډیلي یې وروست. انقلابیونو پوره څلور میاشتې له وسله وال دښمن سره جګړه وکړه، خو د انګرېزانو وسله پرمختللې وه نو څکه انقلابیون له ماتې سره مخامخ شول. انګرېزانو ډیلي ونیو خلك یې قتل عام کړل، پنځه هندي شهزاده ګان یې اعدام کړل او بابري شاه او ملکه یې بندیان او د رنګون جېل ته یې واچول. لکنهو ته هم انګرېزي مرستندوی پوځ ور ورسېد. انګرېزي بندیان یې خوشي کړل، ښار یې ونیو او انقلاب یې په زور وځاپه. په کانپور کې جنرال نیل او جنرال هیولوك، نه نه صاحب ته ماتې ورکړه او له ښار څخه یې وایست او له خلکو څخه یې ډېر کلك غچ واخیست. دا څکه چې سکاتلندي سرتېرو د جنرال ویلر د لور مړی وموند او د هغې ویښتان په خپلو منځو کې ووېشل او ژمنه یې وکړه چې د هغې د هرو ویښته په وړاندې به یو هندي وژني او همداسي یې هم وکړل او د وینو ویالې یې وبهولې. دغه وژنې دومره وېرونکې او له وحشت څخه ډکې وې چې د کلکتې حکومت اړ شو چې سکاتلندي سرتېرو څخه وسلې

Scanned by CamScanner

راټولي کړي.
په شمالي هند او اوده کې هم دانګرېزانو عملیات په شدت سره عملي شول او په پای کې مرته وځپل شول او د انقلابیانو مشر (تانتیاتو بې) ونیول شو او له ستوني ځخه وځړول شو. په دې توګه د هندوستان انقلاب په ۱۸۵۸ کې وټکول شو. د انقلاب په تودو شېبو کې انګرېزان په دې فکر کې شول چې د سند د ښې لاس افغاني ولایتونه بېرته افغانستان ته ورکړي. لارنس په همدې اړه لندن ته یو وړاندیز واستاو، خو د لندن لنډ پارو انګرېزانو دغه وړاندیز ونه مانه. حال دا چې امیر دوست محمد خان د یو ننداره کوونکي په توګه له لرې ځخه د هند دغه وضعیت ته کتل. د خلکو له ټینګار سره سره هغه په دغه لاره کې یو ګام هم اوچت نه کړ او یوه خبره یې هم ونه کړه. په دې توګه د افغانستان د غصب شویو ځمکو د بېرته تر لاسه کولو یو ډېر ښه فرصت بیا هم له لاسه ووت. د هند له انقلاب ځخه وروسته د لندن پارلمان هندوستان د شرق الهند د کمپنۍ له واک ځخه بهر کړ او د هندوستان په تاج او تخت پوري یې وتاړه. د انګلستان ملکې ویکتوریا د هند د ملکې په توګه هم ځان اعلان کړ او د هند ګورنر جنرال ته د ویسرا (نایب السلطنه) دریځ ورکړل شو. د هند وایسرا سرجان لارنس (۱۸۲۴ – ۱۸۹۲) د بوتان له ولایت سره جګړه وکړه. ددغه وایسرا د حکومت پر مهال ډېره بده کاختي په لوېدیز هند کې راغله او په زرګونو خلك له لوږې مړه شول. ویسرا لارد میو په ۱۸۷۰ کې د داندمان په ټاپو کې د یوه کړېدلي او ځورول شوي سړي په لاس ووژل شو. د لارد نارت بورك په دوره کې په بنګال کې یوه بده کاختي راغله. وایسرا لارد لیټن په ۱۸۷۷ کې د انګلستان ملکه د هندوستان د امپراتورس په توګه اعلان کړ، او د هغه د واکمنۍ پر مهال په جنوبي هند او دکن کې کاختي راغله چې پنځه میلیونه هندیان د لوږې له لاسه مړه شول. وایسرا لارد دوپرین په ۱۸۸۲ کې د جګړې په زور پورتني برما ونیوله او د هغه ځای پاچا یې هند ته تبعید کړ.

## په هندوستان کې د انګرېزانو چلند

د نولسمې او شلمې پېړۍ په ترڅ کې د ختیز او لوېدیز دواړ لیکوالو په قلم زیات شمېر آثار په هندوستان کې د انګرېزي نیواکګرو د چلند په هکله لیکل شویدي او ګڼ شمېر لیکوالو په هند کې د دوی د استعماري روش په هکله څېړني کړې دي چې ممکن یوه برخه یې د استعماري سیالي پر بنسټ وي، خو نوره زیاته برخه یې د هند د ټولنیزو واقعیتونو په بنسټ ولاړ دي او د لیکوالو ناپېیلي قضاوت او څېړني پایله ده. په دې لړ کې یو هم د (فظایع الدول الاستعماریه فمالشرق، انګلزا في الهند)[۱] کتاب دی چې پکې راغلي دي: (کله چې سرتامس په ۱۹۱۲ کې هندی راغی په یو شمېر لیکونو کې یې د لندن پارلمان ته ولیکل: په هند کې یې انګرېزان د وینو په تویولو او د سیمو په نیولو کې ملامت او ویې ویل چې د انګرېزانو دغه ډول چلند په هند کې د سوداګریزو ګټو خلاف دی). لارد کلایو چې په خپل لاس له

---

[۱]– د برلین چاپ، د آزادي شرق د موسسې له خپرولو ځخه.

Scanned by CamScanner

هند څخه درې میلیونه پونډه رشوت اخیستی و. په لندن کې یې د کمپنۍ مدیر ته داسي ولیکل (ستاسي مامورین د انګلستان د پاچا د توري په زور. د رشوت اخیستلو له لارې ژوند تېروي او هغه څوك چي د بېلګي په توګه پنځوس پونډه معاش لري. زر پونډه لګښت کوي. که رشوت ورته بس نه شي، خلك لوټي. راکړه ورکړه د انګرېزانو په ټولو ادارو کې شته.)

لارد واژن هستنګس (د هند انګلیسي تر ټولو بې رحم او ظالم حاکم) په خپله په یو لیك کې د انګلستان د مجلس رئیس ته لیکي و چې: (په هند کې د انګرېزانو له لاسه ډېر ظلمونه شوي دي، یو شمېر د انګرېزانو د مامور. پولیس او جاسوس په نوم په عسکري دریشي کې په بنګال کې د خلکو مالونه لوټ کوي او کله چې د بنګال خلك د انګرېزانو له نوم څخه ډېره کرکه کوي نو آن ماته هم د شکایت لپاره نه راځي، خو ما په خپلو سترګو دغه ظلم ولید. ما د یوه سفر په ترڅ کې ولیدل چې انګرېزي لښکریان د خلکو مالونه ورڅخه اخلي او پر ناموس یې تېری کوي له همدې امله چې کومي خواته زما د سفر کولو خبر خپور شي، د لارې په ترڅ کې سلګونه کلي له خلکو تش وي او خلك یې تښتي.)

د انګرېزانو د همداسي کړو وړو په ترڅ کې د حکومت د یو لوړ مقام (د بنګال د نواب) یو مامور د امیر کبیر په نامه یواځي په دې تور چي لږ څه د بارودو سالګه یې پېرودلې وه (سره له دې چې د انګرېزانو په انحصار کې نه وه) په زنځیرونو تړل شوی و او کلکتې ته لېږل شوی و. هغه ونه وژل شو، خو د کمپنۍ د مجلس غړو هغه ته بېلا بېلي سزاګاني غوښتلې لکه له پښو څخه ځوړندول، د پوزې او غوږونو پرې کول او داسي نور.

انګرېزانو مالګه، مرچ، غلې ـداني او تنباکو انحصار کړي و دغو انحصاراتو خلکو ته یو مرۍ ډوډۍ هم نه وه پرېښې. مالیات دومره درانه وو، چې خلکو کرنه او کاروبار پرېښود او څو ځلي کاختي راغله او په میلونو نه خلك مړه او د ګنګا سیند د وړو خلکو له مړیو څخه ډك شو. یو کتاب کې چې (مستر ملز)، (دوارن هستنګس استنطاق) تر عنوان لاندې لیکلی ویل شوي چې: لارد د دینار پوچ د سیمي مالیات د څلور سوه زره روپیو په بدل کې د ربي سنګه په نامه یوه جنایتکار ته په اجاره ورکړل. دغه اجاره دار له هر تن څخه د هغه د شتمني لست تر لاسه کاو، بیا به یې د لرګیو لاندې کړ او هغه شتمني به یې ټوله ور څخه اخیستله، چا به چې نه ورکوله ډول ډول سزاګانې ورکول کېدې لکه د نوکانو ایستل، چپه ځوړند، په سر باندې دومره وهل چې له پوزې او غوږونو څخه یې ویني وبهېږي، پلار او زوی په یوه زنځیر کې تړل او په لوخ ځای یې په لښتو وهل او په زهرجنو ښاخو تناکي کول، محکمې ته د ښځو او نجونو راغوښتل د هغو لوڅول او بې عفته کول او یا به د هغو تي د لرګي په شق کې ورکول.

کله چې خلکو دا حال ولید د اجاره دار د خوښ ساتلو لپاره یې د سیمې له بډایو او شتمنو څخه په سلو باندې د شپږ سوه سود په بدل کې پور اخیست او اجاره دار ته یې ورکول. په دې برخه کې د مستر پترسن لیکني اوس هم په انګلیسي دفترونو کې شته. مستر برك د لندن په پارلمان کې ادعا وکړه چې دغه ټول جنایتونه چې د لارډ هستنګس له خوا شوي ثابت کېدای شي، خو د استنطاق هیئت اجازه ورنه کړه، د مستر پت د وینا او تورونو سره سره، پارلمان تورن لارد د هغه ۴۵ جرمونو څخه خلاص کړ چې په

هند کې يې ترسره کړي وو او همداسې هم مخکې له دې څخه لارد کلايورا له هغو جرمونو څخه هم برائت پيدا کړی و چې هغه په هندوستان کې کړي وو.

په هند کې انګرېزانو په خپل دغه چلند سره غوښتل چې ورو ورو د وخت په تېرېدو سره د هند په اخلاقي ښېګڼو، تاريخي دودونو او ملي ارزښتونو داسې منفي اغېزه واچوي او د هند د خلکو په عزت او شرف پښې کېږدي او کومو ليکوالو چې د هند غوره دود او اخلاق ستايلي د هغو په وړاندې هند بد معرفي کړی او په ډېرو زياتو لګښتونو سره يې هڅه وکړه چې نړۍ ته د هندوستان د خلکو عالي شخصيت او کرامت په بده بڼه تبليغ کړي او د دوی پر ضد پروپاګندو کړي او نړيوال دې فکر ته راولي چې هند د خپلواکي او استقلال مستحق نه دي، حال دا چې تاريخ د هند د خلکو د اخلاقي اصالت په هکله حکايتونو څخه ډك دی. البته د انګرېزانو اقتصادي او سياسي فشار او روزنيز چلند په هند کې دا هڅه کوله چې داسې ټولنيز شرايط راولي چې که کوم فيلسوف هم پيدا شي، ونشي کولای چې د نيواکګر دښمن په وړاندې مثبته مبارزه کړي او که کوم ملي شاعر او ليکوال هم پيدا شي، هغه هم سند، مډال، لقب، امتياز او اعزاز له هغه پردي څخه وغواړي چې دده په خپل هېواد واکمن دی او له هغه څخه د خپل معنوي ارزش ستاينه طبيعي خبره وګڼي.

هو! دا د انګرېزانو د چلند يوه ځانګړې طريقه وه چې غوښتل يې ملتونه په زور، او مادي او معنوي فشار سره سپك کړي او اړ يې عادت کړي او په دوهم نسل کې ور څخه يو بل شی جوړ کړي چې له خپل ملي اصالت سره پردي او يو فرمايشي او غړوندی په غاړه وي، خو انګرېزان په دې کار کې يوائې نه و، سيمه ييز چارواکي او فيوډالان او پانګوال هم ورسره وو، خو سره له دې هم د ملتونو د تاريخي تګلورې د تل لپاره مخه نيول ناممکن و او دغه تکامل بالاخره مخ په پورته و. انګرېزانو له خپلو منفي هڅو لاس نه اخيست او خبره يې تر دې بريده پورې ورسوله چې د اقتصادي ستونزو او بېوزلي له امله د شتمنو او بډايو په ودونو او اخترونو کې به بېوزله له ډېرو لرې ځايونو څخه ورته راغلل چې يو مړۍ ډوډۍ وخوري او څه خبرات تر لاسه کړي او که کوم به وروسته را ورسېدل، هغوی به تش نسي بېرته تلل، په لاره کې به بوډاګان، ناروغان او ماشومان مړه شول. ډاکټر اسيري په خپل کتاب (موډرن انډيا) کې ليکي: په شلمه پېړۍ کې په بنارس کې د کول قوم ته د سزا ورکولو په ترڅ کې لکه د تل په شان د ګورنر جنرال په امر سره سرتېرو ټول کلي وسوځول او انګرېزي سرتېرو نارينه ټول اعدام کړل. ډاکټر دا هم وايي چې ما داسې بزګران وليدل چې خاوره به يې غلبېل کوله او د هغه له منځه به يې دانه نيمه غله پيدا کوله چې ويې خوري، په يوه بله سيمه کې خلکو د ونو پاڼې خوړلې، داسې ميندې هم وې چې خپلې لورګانې يې په بډايو خلکو باندې پلورلې، آن دا چې ما يوه اوه کلنه نجلۍ د هغې له مور او پلار څخه په اووه روپۍ وپېرودله، حال دا چې د هند نيمه وچه د ډېرو زياتو کرنيزو ځمکو او ګرانبيه کانونو لرونکې ده چې د هغو له محصولاتو څخه په لندن کې ډېرې لويې لويې ماڼۍ جوړې شوې دي.

د امريکې يوه نامتو ليکوال (ويل دورانت) په خپل نامتو اثر (د هندوستان اختناق) کې چې په ايران کې خپور شوی، داسې ليکي: (.... تر ۱۹۰۷ م کال پورې د انګرېزي هند د معارف ټوله بودجه دوه ميليون

ډالره وه، خو نظامي بودجه یې ۴۳ میلیون ډالره کېده. دلته هغه لومړنی معارف نه، بلکې لومړۍ زده کړې بنودل شوې دي چې په هغو سره له یو هندي څخه انګلیس جوړ شي... د انګرېزانو ورځ په ورځ زیاتېدونکو مالیاتو د یوه بزګر نیم عاید و چې په هر بېل بېل نوم او ډول سره ور څخه اخیستل کېده او خلك یې لېوني کړي وو. خو سره د هغه هم هند د صنعتي کېدو خواته ګام اوچت نه کړ. دا ځکه چې انګلستان یو صنعتي هېواد و او باید خام او کرنیز محصول یې له هند څخه تر لاسه او صنعتي محصولات یې باید په هند کې پلورل شوي وای. هند ته د انګلستان واردات له مالیې څخه معاف و، حال دا چې د هند صادراتو څخه ډېره زیاته مالیه اخیستل کېده... د هند په فابریکو کې تقریباً دوه میلیونه هندیانو (د ښځو او ماشومانو په ګډون) په اونۍ کې ۵۲ ساعتونه کار کاو. کارګرو ښځو به خپل ماشومان د تریاکو په ورکولو سره ویده کول. تر څو چې په خپله په فابریکه کې کار وکولای شي وار په وار په هند کې مشروباتو ته رواج ورکول کېد او تریاك په خپله د انګرېز د دولت په لاس په هند کې کرل کېدل او پلورل کېدل. د انګرېز دولت نهمه برخه عاید د تریاکو له مدرك څخه وه. هغه لوایح او مقررات چې هندیانو د تریاکو د منع کولو په برخه کې جوړول د انګرېزانو له خوا رد کېدل. ملي کلك کلك مبارزین به په راز راز چلونو تریاکي کېدل. په هند کې د تریاکو د پلورلو بازارونه ۷۰۰ بازارونه جوړ شول (په برما کې یې خلك وړیا او په زور سره تریاکي کړل).

په هندوستان کې انګرېزانو داسې چلند را اخیستی و چې باید د ټولو چارو په سر کې انګرېز ناست وي. اګر که نالایقه هم وي، ددې سر چپه هندي باید هرومرو د انګرېز تر لاس لاندې وي. اګر که لایق هم وي... د هند خلکو د ډېرې بېوزلۍ له امله چای، قهوه او سابه نه پېژندل. د پښو پوندۍ نرۍ او پوټکي یې په هډوکو پوري نښتي وو. هر کال به تبې، ټوخي، او لوږې په میلیونونو هندیان د مرګ کومې ته ورکول. له ۱۸۷۸ څخه تر ۱۹۰۰ کال پورې یعنې د ۲۲ کلونو په ترځ کې پنځلس میلیونه هندیان یواځې د لوږې له لاسه مړه شول. د هند نیم ماشومان به له اته کلنۍ څخه مخکې مړه کېدل. حال دا چې د هند د عامه روغتیا بودجه پنځه میلیونه ډالره وه. د هند په سلو کې اتیا خلك په لوڅه ځمکه ناست وي. حال دا چې د دوی کارګټه بهرته لېږدول کېږي. کومه چې بېرته نه راګرځي. د هند سیمهییز صنایع وار په وار له منځه وړل کېږي او ملت د یوې ناتوانه رمې بڼه غوره کوي چې انګرېز ته مطیع ده. هندوستان دومره وکړول شو چې د هغوی کرامت او غوره اخلاق تر پښو لاندې شول او له ژوند، نعمت او آزادي څخه ناهیلي شول، نور نو د هندیانو پر شونډو خندا نشته... کله چې جاپانیانو پر روسیه باندې یرغل وکړ، د هند انقلابیونو د خپلې آزادي لپاره په ترور لاس پورې کړ، خو بری ورپه برخه نه شو. دا ځکه چې زور یې لږ او موخې ډېرې وې چې باید تر لاسه شوې وای. په لومړۍ نړیواله جګړه کې (۱۹۱۴ ـ ۱۹۱۸) نامتو مهاتما ګاندي د هند ولس د انګلیستان د موخو په لاره کې یوې عجیبې فداکارۍ ته وباله، تر څو وکولای شي انګرېزانو ته د خدمت کولو په ښودلو سره په وروسته ترتېږي انګرېزان دې ته وهڅوي چې د هندوستان خپلواکي په رسمیت وپېژني. ډېرو خلکو د ګاندي حکم ومانه او یو ځل یې په نړیوال جنګ کې انګرېزانو ته د جګړې د لګښت لپاره پنځه سوه میلیونه ډالره راټول او انګرېزانو ته یې وزکړل او بل

خل يې د انګرېزانو د پور د خلاصون په موخه او ه سوه میلیونه ډالره پیسې هغوی ته ورکړې او بل خل يې د دوه ملیارده او دوه سوه پنځوس زره ډالرو په بیه ببلا ببل توکي د جګړې ډګر ته ورولېږل او له دې سره یو ځای د انګرېزي امپراتوري د ساتنې لپاره د جګړې سنګر ته یو میلیون او درې سوه او اته دېرش زره هندیان واستول شول. آیا انګلستان د هند د خلکو د دغې فداکارۍ په وړاندې څه وکړل؟

د هند وایسرا جلسفورډ د هند د خپلواکۍ هغه وعده چې (منتاګو) کړې وه رد کړه. خو لندن هغه ومنله. انګرېزانو په لومړۍ نړیواله جګړه کې تر برۍ وروسته هند ته د خپلواکۍ د ورکولو پر ځای د هند په هر ولایت کې د ملوك الطوايفي سیستم راوست او دغه سیستم يې د دوو وزیرانو په ټاکلو سره تطبیق کړ. دوی د انتخاباتو قانون داسې جوړ کړی و چې له هرو دوه سوه او پنځوس هندیانو څخه یوه تن رایه ورکولای شوه. چې هر یو به په ببلا ببلو قومونو پورې اړه درلوده. او دغه شمېر د ټول نفوس د اندول په پلم کې نیولو پرته ټاکل شوی و. سره ددې هم د انګلستان حکومت د دغه ډول مقننه هیئت د مصوباتو په هکله اختیار درلود چې فیصله يې منله یا يې نه منله... هندوستان د انګرېزانو له لوري د اقلیتونو د ساتنې په نامه په څو څو متضادو او سره دښمنو ډلو ووېشل شو او مذهبي تعصبات راوپارول شول او ددغو تعصباتو بد اغېزه هغه مهال را څرګنده شوه چې دغه هېواد د هندو او مسلمان په نوم ووېشل شو او ګڼ شمېر خلك پکې ووژل شول او لا اوس هم ددغو تضادونو له امله هندوستان ته ډېرې ستونزې په مخ کې پرتې دي. له دې ټولو سره سره په هندوستان کې د انګرېزانو چلند د خلکو تر منځ د نفاق تضاد او دښمنۍ اچولو پر بنسټ ولاړ و او انګرېزانو د بې اتفاقۍ دغه اور د انتخاباتو د قانون د جوړولو، توطئې، تبلیغ او تبعیض په واسطه تازه کاو، د سیاست، سیمې، مذهب، ژبې او نژاد له مخې دغه تفرقه او دښمني هند د ځنګندن په حالت کې اچولی و. انګرېزانو هند ته د خپلواکۍ ورکولو د وعدې پر ځای، چې له نړیوالې لومړۍ جګړې څخه مخکې يې هند ته ورکړې وه، وروسته تر بالیتوب څخه، په هند کې هغه پخوانۍ د قلم او بیان آزادي هم له منځه یووړه، سرغړونکي به پرته له دې چې کوم شاهد او مدعي او سند موجود وي او پرته له دې چې مرافعې ته غوښتنه وکولای شي. مجازات کېدل. دا یواځې نه، بلکې جنرال دایر په ۱۹۱۹ کې یو نیم زر تنه هندیان په امرتسر کې ووژل. هندي زده کوونکي په علم محضر کې وډبول شول. بندیان په قفس کې لمر ته اچول کېدل، روحانیون به په بوره موښل کېدل او لمر ته غورځول کېدل، بې ګناه کرنیزي ځمکې بمباري شوې، څلور زره تنه هندیان ټپي شول. کله چې دغه جنرال تقاعد وکړ، انګرېزي نظامیانو هغو ته ددغو وحشیانه قتلونو او ظلمونو په بدل کې ۱۵۰ زره ډالره مرسته ورکړه. د هندوستان نامتو شاعر تاګور هغه ټول مډالونه او نښانونه چې پخوا يې له انګلیس دولت څخه اخیستي و بېرته مسترد کړل.

په بمبئی کې د هندوستان خلکو د انګلستان د هغه ولیعهد له هر کلي څخه ډډه وکړه چې د هماغه کال په نوامبر کې نوی ټاکل شوی و او ۵۳ تنه هغه د پارس سوداګر يې ووژل چې د دغه ولیعهد هر کلي ته ورغلي وو. دې پسې وروسته په شمالي هندوستان کې، (دین ټیکه دارانو) په لاس مذهبي جنګونه پیل شول او له ۱۹۲۳ څخه تر ۱۹۲۷ پورې په هغو کې پنځه زره او پنځه سوه هندو او مسلمان هندیان

Scanned by CamScanner

ووژل شول او یو شمېر ټپیان شول. دغه جګړې په مالابار، چاورۍ او چاروا کي تکرار شوې، خو په هغو کې څو تنه انګرېزان ووژل شول او حکومتي پولیس دفتر ته اور واچول شو. په دې پسې دوه سوه او پنځوس زره هندي مبارزین بندیان شول او د هند د خلکو ملي مبارزه د لومړي ځل لپاره په نړۍ کې راڅرګنده شوه. خو مهاتما ګاندي په داسې یو مهال کې له انګرېزانو سره د هند د خلکو د هڅونه ګډون پرېکړه پای ته ورسوله او نړیوال دې کار ته هك حیران شول. خو انګرېزان له خوښۍ څخه په جامو کې نه ځایېدل په ۱۹۲۸ کال کې د هند کانګرس چې نیم میلیون غړي یې درلودل. له خپلو پنځلس زره غړو سره په کلکته کې یوه غونډه وکړه او فیصله یې وکړه چې له انګرېزانو څخه په خپلواکي ترلاسه کوي. دغې فیصلې نېټه د ۱۹۲۹ کال تر پای پورې ښودل شوې وه. د ۱۹۳۰ کال په پیل کې کانګرس په لاهور کې غونډه جوړه کړه او ګاندي او د ګوند اجرائیه کمیټې ته یې واك ورکړ چې هر کله چې دوی وغواړي د خپلواکۍ غورځنګ پیل کولای شي. ګاندي د مارچ په میاشت کې د مالګې د مالیاتو د نه ورکولو فیصله اعلان کړه چې په دې توګه هم په خپله ګاندي او هم څو تنه نور بندیان شول. د همدغه کال د مي په میاشت کې د پېښور په افغاني ولایتونو کې د کانګرس د رهبرانو د بندي کېدو په ضد مظاهرې وشوې. دا وخت د انګرېزي حکومت بېساري جنایتونه پیل شول، په سلګونو خلك یې ووژل. په سلګونو ټپیان او نور لوڅ او بربنډ پر ځمکه باندې کش شول. د یو شمېر آزادي غوښتونکو په شرمګاه کې لرګي دننه کړل شول او د یو شمېر نورو خوټې د پولیسو په لاس دومره تر فشار لاندې راوستل شوې چې سزا لیدونکي یې له درد څخه بې حاله شول. لوڅ ټپیان په اغزیو باندې وغورځول شول او د یو شمېر ټپیانو په ټپونو باندې مالګه واچول شوه. په مړیو او نیم ژواندو آزادي غوښتونکو باندې آسونه وګرځول شول او د نورو په بدن باندې ستنې خښې شوې. د انګرېزانو د یوه امیر البحر لورمس مادلین اسلاید یوه لیکنه کې (چې د هندوستان د جریدې د جون په ۱۲ مه خپره شوې وه) راغلي چې: (... له دغو ټپیانو سره داسې بد چلند وشو چې لیکل یې هر احساس لرونکی انسان لړزوي). دغه انګرېزه مېرمن بیا لیکي: د انګرېزانو په عدلي محکمو کې د تبعیض او بیعدالتۍ روح داسې دی چې که چېرې کوم انګرېز خپل هندي نوکر ووژني. ایله شپږ میاشتې بندي شو او ۲۷ ډالره یې ورکړل، خو په یو بل ځای کې یو هندي په یوه انګرېزه باندې د ناوړه قصد په تور شل کاله بندي شو. په هماغه ښار کې یوه انګرېز په یوه هندۍ نجلۍ باندې په زور سره جنسي تېری وکړ، خو انګرېزي قانون هغه مسئول و نه ګاڼه... خو له دغو وحشتونو او ترور سربېره چې کلونه کلونه په هند کې پر مخ روان دي. د هندوستان د خلکو خپلواکي غوښتونکې روحیه له منځه نه ولاړه. د نولسمې پېړۍ په پای کې د هند ټولنیز شرایط د یوه نوي ملي غورځنګ د رامنځته کېدو لپاره چمتو شول.

# د هندوستان نوی غورځنګ

لکه څرنګه چې (ماجومدار ورای چودري ودانا) د هند پرمختللی تاریخ[۱] کتاب کې لیکلي په ۱۸۸۳ کې یو متقاعد مامور چې (آلن اکتیوین هیوم)[۲] نومېد، په لیکلي بڼه د کلکتې د پوهنتون فارغان د یوې ټولنې جوړولو ته وګومارل تر څو په هند کې یو سیاسي، اخلاقي، ټولنیز او فکري غورځنګ تولید کړي. لارد دوپرین د هند ګورنر جنرال هم چې کله د هندوستان حتمي بدلونونو ته ځیر شو. نو د هیوم له دې نظر سره یې خپل توافق وښود. هغه هڅه وکړه چې هغه د انګلستان د حکومت په ګټه جوړه کړي او د انګلیسي له منافعو سره مطابقت ورکړي. نو ځکه یې وویل: (د انګلیس حکومت د داسي یوه سازمان پلوی دی تر څو وکولای شي د هغه له طریقه د هند د خلکو له عقیدې او نظر څخه خبر شي.)

هیوم له یو شمېر پېژندل شویو هندیانو سره یو ځای په دغه کار لاس پورې کړ او ویې کولای شول چې په ۱۸۸۵ کې د ملي کانګرس لومړنی غونډه وویني. ددغې غونډې ګډون کوونکي ۷۲ تنه وو. مشري یو بنګالي و چې (بونرجا) نومېد. له هغه څخه وروسته په کال کې یو ځل د کانګرس غونډه د هند په یوه ښار کې جوړېده. او د نولسمې پېړۍ تر وروستیو پورې یې همدومره کول چې په حکومت باندې نیوکې وکړي او د هغوی له خوا د ریفورم غوښتنې ته غوږ ونیسي، خو په ۱۸۸۸ کې د کانګرس ښستیز غورځنګ پیل شو او یوه نماینده ګي یې په لندن کې هم پرانستل شوه او هر کال یې داسې پرېکړې کولې چې د حکومت د پاملرنې وړ نه وې. په پای کې ریښتیانی غورځنګ د هغه د یوې ډلې روښنفکرانو او د هند د اصلي منورینو پواسطه پیل شو چې مشرتوب یې د تلك[۳] په غاړه و. دغه غورځنګ هم کانګرس پورې اړه درلوده. دوی ویل چې:

هیڅ ریفورم پرته له عمل په وینا او تش خبرو باندې نشي رامنځته کېدای. تلك حقایقو ته وکتل او خلك یې فعالیت ته وهڅول او په کانګرس کې حقیقي کیڼ لاسي رامنځته شول. په پیل کې د هند مسلمانانو کانګرس ته چندان پاملرنه ونه کړه، دا ځکه چې د دوی خپل رهبران هم په فعالیتونو بوخت وو، د بېلګې په توګه له انقلاب څخه یو څو کاله وروسته په هند کې مولوي محمد قاسم چې په خپله د انقلابیونو یو غړی و د دیوبند مدرسه جوړه کړه، سره له دې چې دا یواځې د دیني علومو مدرسه وه، خو ګڼ شمېر مجاهدین یې وروزل چې د مذهب له حکم سره سم یې د هندوستان آزادي له انګرېزي نیواکګرو څخه غوښتله. په دغه مدرسه کې د اوه سوه په شاوخوا کې مسلمان طالبان په وریا ډول روزل کېدل، چې ددغې مدرسې فارغان په هند کې د آزادي غوښتنې د روحیې لرونکي او د استقلال تبلیغ کوونکي بلل کېدل. خو کله چې انګرېزانو په هند کې ددغې مدرسې فعالیت د خپلو ګټو مخالف وباله او دغه مدرسه د هغوی ضد ثابته شوه، نو د هغې د خنثی کولو لپاره یې ډېر خلك مدرسې ته ورننه کړل، چې وروسته تر فراغت څخه به د دیوبند تر نقاب لاندې د انګرېزانو د استعمار په خدمت کې وې. دې خبرې د مدرسې

---

۱- Advanced History of India، د لندن چاپ ۱۹۴۸

۲- Allan Octavian Hume

۳- Bulgangadhar Tilak

Scanned by CamScanner

شهرت ته ډېر بد تکان ورکړ او اعتبار یې زیانمن کړ. آن دا چې په افغانستان کې ددغې مدرسې پخواني کرکه پیدا شوه او په پغمان کې د ۱۳۰۷ (۱۹۲۸ م) کال لویې جرګې دا ومنله چې وروسته له پهوړاندې کال څخه افغاني طالبان د دیوبند په مدرسه کې زده کړې نشي کولای. د افغانستان پاچا امیر امان دي الله خان امر وکړ چې ددغې مدرسې فارغان د افغانستان په هیڅ ګوټ کې ژوند نشي کولای. بلکې پراخي په هغو سیمو کې به اوسیږي چې دولت یې ورته ټاکي. همدارنګه د دیوبند ددغې مدرسې څو تنه فارغان لکه مولوي محمد ابراهیم خان کاموي او مولوي فضل ربي خان او نور د حکومت له خوا بندیان شول آن داسې هم ویل کېدل چې مشهور اندړ حاجي عبدالرزاق خان چې په کلونو کلونو د نائب السلطنت له خوا او هم بیا وروسته د امانیه دولت په پیل کې د افغانستان په آزادو پولو کې په سیاسي نعالیتونو بوخت و، پواخي په همدې دلیل له سیاسي فعالیت څخه منع شو چې د دیوبند فارغ و. د دولت دغو مقرراتو د عملي کېدو وخت ونه موند. خو دیوبند ته د یو شمېر لیوالو مذهبي علماوو مخالفت یې زیات او د هغوی تبلیغ یې ګړندی کړ او همدوی بیا راتلونکی سقوي اړ-دوړ پیاوړی کړ.

همدا د دیوبند مدرسه وه چې وروسته بیا سر سید احمد ته یوه بېلګه شوه او هغه هم په علیګړ کې یوه مدرسه جوړه کړه. خو توپیر دا و چې علیګړ د نویو علومو تدریس او د هندي ځوانانو د روښانه کولو دنده هم په غاړه اخیستې وه. همدا علیګړ وروسته بیا د لاهور د (انجمن حمایت اسلام) د تقلید او تعقیب وړ وګرځېده. کله چې سر سید احمد په ۱۸۷۵ کې د علیګړ مدرسه جوړه کړه (وروسته بیا علیګړ په پوهنتون بدل شو) په خپله هم د کانګرس غړی شو او د مسلمانو مبارزانو کوچنۍ کوچنۍ ډلې او سازمانونه یې جوړ کړل. خو هغه ټول دده له مړینې سره سم له منځه ولاړل. په ۱۹۰۲ کې یو شمېر مسلمانو روڼ اندو (مسلم لیګ) جوړ کړ. لس کاله وروسته بیا کانګرس او مسلم لیګ ګوندونه سره یو شول. خو کله چې په ۱۹۰۵ کې د ملي کانګرس لویه یوویشتمه غونډه پرانیستل کېده، د لومړي ځل لپاره د کانګرس د ښي او کیڼ اړخ تر منځ ژور اختلاف تر سترګو شو، د کانګرس مشر ګوبال کرشنا کوخال و، خو د کیڼ لاس لارښوونکی تلك. آراویندا کوش او چندربال وو. همدوی له انګرېزانو څخه د خپلواك حکومت د جوړولو پلویان وو، خو ښي لاسو کانګریسیانو د انګرېزانو دومینون ډوله کامنولیت غوښت. په ۱۹۰۸ کال کې د کانګرس رهبري د ښي لاسو اعتدالیونو لاس ته ورغله او تر ۱۹۱۲ پورې همدوی د کانګرس په سر کې پاتې شول. په دې وخت کې ښي لاسو ته اعتدالي نشنلستان او کیڼ لاسو ته رادیکان نشنلستان ویل کېدل. د شلمې پېړۍ په همدې لومړۍ لسیزه کې کرم چند ګاندهي په جنوبي افریقا کې د (منفي مقاومت) مشهور غورځنګ جوړ کړ او په ۱۹۱۸ کې انګرېزانو په هند کې د (مونټ فورد) ریفورم اعلان کړ. اعتدالیونو ددغه ریفورم ملاتړ وکړ او د (ملي آزاد فډریشن) په نوم یو سازمان یې جوړ کړ، خو دا مهال کانګرس د کیڼ لاسو تر لارښووني لاندې و، دغه ریفورمونه یې ونه منل. په ۱۹۱۹ کې چې افغانستان خپلواکي تر لاسه کړه او له انګرېزانو سره یې د دریم جنګ په پای کې ځان خپلواك کړ، د هند مسلمانانو د مولوي شوکت او محمد علي تر لارښووني لاندې او هندوانو د مهاتما ګاندي تر لارښووني لاندې لاسونه سره ورکړل. په ۱۹۲۰ م کې تلك چې لوی مبارز و، مړ شو او کانګرس

Scanned by CamScanner

فیصله وکړه چې هند په بشپړ ډول خودمختار وګرځول شي، نه د دومینون په شکل خو د تلك مړینې د ګاندي د (نه تعاون غورځنګ) ته د پرمختیا لاره هواره کړه په ۱۹۲۷ کې کانګرس خپله موخه (د هند خپلواکي) اعلان کړه او په ۱۹۲۸ کې د کانګرس دننه (لیګ استقلال) جوړ شو چې دوه منشیان یې لرل یو یې (بوز) او بل یې جواهر لال نهرو و. دوی د هندوستان بشپړه خپلواکي غوښتله. خو په همدې کال کې ګاندي چې د هند د خلکو په اذهانو کې یې ډېر ځای درلود، کانګرس دې ته اړ کړ چې د دومینون حیثیت ومني، په دې شرط چې له ۱۹۲۹ څخه مخکې وي. په ۱۹۲۹ کې کانګرس د نهرو تر مشرتوب لاندې ومنله چې د هند بشپړه خپلواکي باید تر لاسه شي. په ۱۹۳۰ کې ګاندي د نه اطاعت غورځنګ (د عدم تشدد) په بڼه او په بې وسلې بڼه اعلان کړ. خو د شوکت علي او محمد علي تر لارښوونې لاندې مسلمانانو ددغه اعلان ملاتړ ونه کړ. له دغې پېښې څخه وروسته د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ تضاد راغی. انګرېزانو ګاندي او د کانګرس نور مشران په جېل کې واچول. دا مهال د سند د ښي اړخ افغاني ولایتونو کې نامتو خان عبدالغفار د خلکو د غورځنګ لارښوونه په غاړه واخیسته. د افغانانو سیاسي غورځنګ لا مخکې پیل شوی و. په ۱۹۰۰ م کال کې حاجي ترنګزایي په پېښور او مردان کې (حزب الله) جوړ کړی و، په ۱۹۲۰ کې عبدالغفار خان (انجمن اصلاح افاغنه) د پېښور په شمال کې جوړ کړ په ۱۹۲۸ کې پښتون مجلهٔ، زلمی پښتون او خدایي خدمتګار مجلې رامنځته شوې. په ۱۹۳۰ کې د خدایي خدمتګارو ګوند د ۲۰ زره غړو په لرلو سره جوړ شو. همدارنګه په بلوچستان کې په ۱۹۲۸ کې د (انجمن وطن) په نوم یو ګوند خان عبدالصمد خان جوړ کړ او په ۱۹۲۹ کې د بلوڅانو کنفرانس او وروسته بیا پښتون ورور او نشنل پارټي جوړ شول.

تر دې مهال پورې کانګرس د هندوستان په ټاکنو کې برخه واخیسته په شپږو ایالتونو کې وړونکی شو او په ۱۹۳۷ کې یې ددغو ایالتونو وزارتونه په لاس کې وو. ډاکټر خان د افغاني صوبه سرحد وزارت کې مقرر شو، خو انګرېزانو په هندوستان کې د ارتجاع او ملوك الطوایفي ملاتړ کاو، نو اړه چې د پېړیو پېړیو نیواك او ښکېلاك په ترڅ کې یو څه کار هم وکړي، دا ځکه چې له یوه مستعمره هېواد څخه د شتمنیو تر لاسه کول او وړل، سوداګري، د خامو موادو تولید، د خرڅلاو د بازار موندلو، د مستعمره هېواد د ساتنې او په خپله د استعمارګر هېواد د کتو ساتنې ته اړتیا لري او ددې چارو لپاره په ښکېل هېواد کې باید یو څه کار هم وشي لکه: د وسپنې د پټلۍ غځول او د لارو جوړول، د لېږد د وسایلو جوړول، د مخابراتي او ارتباطي وسایلو عامول لکه ډاك، تلګراف، د تلیفون مزي او نور. همدارنګه د علمي اداري او فني پرسونلو د روزنې لپاره ښوونځیو ته هم اړتیا وه. د دفاع او ساتنې لپاره د لښکر کوټونو جوړولو ته اړتیا وه، د سوداګرۍ او خپل هېواد ته له مستعمره هېواد څخه د مالونو د وړلو لپاره بندر او سمندري بېړیو او نورو ته اړتیا وه او د خامو موادو د ښه پروسس لپاره فابریکو ته اړتیا وه او مامورینو د استخدام، ترفیع او تقاعد لپاره قوانینو ته اړتیا وه او دا کارونه انګرېزانو له مجبوریت څخه وکړل او دوی د هندوستان د ملت د فکري جریان ددا سې تنظیم لپاره هم اړتیا درلوده چې په هغو سره د تل لپاره دلته حکومت وچلوي او دې ته ورته نور کارونه. انګرېزانو د خپلو کتو د ساتلو لپاره په

Scanned by CamScanner

هند کې همدا کارونه د خپلو مقاصدو لپاره وکړل او هندیانو ته یې وویل چې که چیرې مونږ نه وای نو ناسې به تر اوسه هم د اورنګزیب په عصر کې ژوند کاو، خو هندیانو خواب ورکاو چې که چیرې تاسې نه وای نو اوس به هندوستان لکه د جاپان په شان پر مخ تللی و، دا ځکه چې تاسې زمونږ په هیواد کې د نفاق تخم وکاره، خرافات مو پیاوړي کړل، زمونږ ملي مبارزین مو له منځه یووړل، زمونږ د خلکو روحیه مو ووژله، زمونږ سیمه ییز صنایع مو ختم کړل او د لویو ځمکوالو، پانګوالو او ورستو شهزاده ګانو سره په لاس یو کولو مو زمونږ د هیواد ټوله شتمني انګلستان ته یووړه او خلك مو بیوزله کړل، حال دا چې له نیکه مرغه جاپان په خپل هیواد کې ستاسو په لاس د ترقي مخې ته کوم جوړ شوی خنډ نه درلود.
په هند کې او د سند د ښي اړخ په افغاني ولایتونو کې دغه وضعیت روان و، تر څو چې د دوهم نړیوال جنګ شروع او بیا پای ته ورسېد. د همدې نړیوالې دوهمې جګړې په ترځ کې مستر چرچیل له امریکې څخه د لندن سلطنتي مهردار ته ولیکل چې: (... باید د هند د اساسي قانون د ستونزې د حل لپاره پام وکړئ او د دغه قانون بدلون ته ځیر شئ. دا فکر چې دغه ډول فایده په هر ډول انتخاباتي سیستم کې تر لاسه کېدای شي. د هغو هندیانو انتخابول چې زمونږ دوستان وي کوم زیان نه لري، خو له سیاست سره برابره خبره نه ده. د هندوستان لښکر ښه جګړه کوي، خو هغوی د امپراتوري تابع دي او هغه نسل چې ژوند یې په جګړو کې تېر کړی وي، هیڅکله کانګرس ګوند او هندو دین نشي تحمل کولای(۱)) وروسته له نړیوالې جګړې څخه هندوستان په ۱۹۴۷ م. کال خپله خپلواکي تر لاسه کړه. خو په دوو برخو (هند او پاکستان جلا شو). دغه وېش له تاریخي او جغرافیاوي پلوه یو مصنوعي او غیر طبیعي وېش او تجزیه ده، خو دغه وېش یوه حتمي خبره وه، دا ځکه چې د انګریزانو استعماري چلند او نفاق اچولو لا مخکې د وخت په ترځ کې دغه بېلتون او جلا کېدو ته لاره هواره کړې وه او د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ یې داسې دښمني را پیدا کړې وه چې دغه وېش او د دوه ځایه کېدل ډېر ژر تر سره شول. محمد علي جناح او فیروز خان نون د دغه وېش او تقسیم ډېر مهم لاملونه وو او همدوی د مسلمانانو او هندوانو ترمنځ جګړه واچوله او د هند وحدت یې له منځه یووړ او مسلمانان یې د هندوانو په وړاندې پاڅول (دغه دواړه د وایسرا د اجرائیه شورا غړي هم وو) او د دغه لمسون او نفاق په پایله کې په میلیونونو هندیان ووژل شول او دوه نیم میلیونه نور مهاجر شول البته متعصبو هندوانو هم مسلمانانو ته ګواښ پیدا او د دوی امنیت یې له منځه یووړ. په دې توګه هند وویشل شو او ډېرې وینې وبهېدې (آن دا چې د هند، پاکستان او پښتونستان رهبرانو هم په دغه لاره کې خپل سرونه له لاسه ورکړل لکه ګاندي، لیاقت علي، ډاکتر خان او نور) تر څو د زاړه استعمار را تلونکي ګټې او له سیمې سره مینه له منځه ولاړه نشي. له دې ټولو سره سره د شخړې خوړلن زړې او د سیاسي او مذهبي تضاد سپرغۍ د هند او پاکستان ترمنځ د کشمیر د مسئلې په سر همدا اسې ژوندۍ وساتل شوه او همدا رنګه هم د افغانستان او پاکستان ترمنځ د افغانستان د ختیځو ولایتونو (پښتونستان) مسئلې د دغو دوو هیوادونو ترمنځ ژور تضاد پیدا کړی دی.
حال دا چې د کشمیر اکثریت خلك مسلمانان دي او غوښتل یې چې له پاکستان سره یو ځای شي، خو

هندوستان تیښګار وکړ او د کشمیر د خلکو غوښتني ته یې پاملرنه ونه کړه همدارنګه د پښتونستان خلك چې د ټولو ملي ارزښتونو، ژبې او نژاد له پلوه افغانان دي او وي به او د ځو زره کلن تاریخ له پلوه دوی غوښتل چې له افغانستان سره وي، خو پاکستان د پښتونستان خلك چې د ټولو ملي ارزښتونو، ژبې او نژاد له پلوه افغانان دي او وي به او د ځو زره کلن تاریخ له پلوه دوی غوښتل چې له افغانستان سره وي، خو پاکستان د پښتونستان ملي غوښتنو ته یې پاملرنه ونه کړه. د کشمیر په هکله د هند دغه چلند او د پښتونستان په هکله د پاکستان دغه چلند د اروپایي استعماري سیاست په برخه کې کومه نوې خبره نه ده او تر څو چې ټول ختیځ په خپلو پښو ونشي دربدلای، ددې ډول پېښو بېلګې به ډېرې ولیدل شي او دوی به اړ وي چې دا پېښې تحمل کړي. آیا د آسیا د تجزیه شویو هېوادونو پېښې د لوېدیزو هېوادونو د سیاست او قوت د اغېزې بشپړې بېلګې نه دي؟ ترکي قبرس او یوناني قبرس، د ویتنام وېش، د کوریا وېش، د فارموسا لانجه چې له چین څخه جلا شوې او داسې نورې بېلګې ټول هغه څه دي چې لویو او ګټه اخیستونکو هېوادونو رامنځته کړې دي، خو شرق (ختیځ) دا پېښې زغمي، دا ځکه چې همداسې حالت په اروپا کې هم ګوري چې یوه بېلګه یې د آلمان وېش دی. خو ددغه وضعیت کنټرول باید ختیځ ملتونه، په تېره بیا ګاونډي ملتونه دې ته ځیر کړي چې دوی یو بل سره په زغم چلند وکړي او ډېر احتیاط څخه کار واخلي او خپله راتلونکې ددغو شخړو له امله له ګواښ سره مخامخ نه کړي.

## خو، انګلیس او افغانستان

په افغانستان کې د انګلیس د دولت سیاست د هغې ظاهري پېچلتیا او برسېرنو ستونز منوالی له امله یې چې درلود، ډېر څرګند او له ګونګوالي څخه تش و، یعني په هر پړاو کې یې هماغه یوه موخه او واحده ستراتیژي پر مخ بېوله، خو په بېلا بېلو حالاتو کې یې په بېلو بېلو بڼو عملي کوله. انګرېزان چې د هندوستان په سرو زرو باندې تاوده شوي وو، د خپلو سیالو یرغلګرو په وړاندې یې له درې لورېو څخه سمندري لارې تړلې وې، په شمال کې هم د همالیا د غره لوی خنډ پروت و چې څوك ور څخه نشو تېرېدلای، خو په شمال غرب کې هند ته یوه لاره وه چې د هندوستان د دروازې په توګه پاتې وه او دغه لاره د افغانستان په لاس کې وه. همدغې لارې پرته له عرب او انګرېز څخه نور ټول یرغلګر تر هند پورې ورسول. دا یواځې نه، بلکې انګرېزانو د پاني پت له جګړې څخه وروسته ولیدل چې په ټول هندوستان باندې د افغانستان معنوي نفوذ او د افغانستان نظامي ځواك په خپله انګرېزانو ته یو سیال دی. په پنجاب باندې د زمانشاه ابدالي یرغل او له افغانانو څخه د هند د مرستې غوښتلو لېوالتیا د افغانستان په هکله د انګرېزانو پخوانی اټکل سم ثابت کړ، نو ځکه انګرېزانو خپل ټول ځواك افغانستان ته واړاو. همدا مهال د افغانستان په هکله د انګرېزانو چلند وټاکل شو. دغه چلند په لومړیو کې یو تدافعي سیاست و تر څو د افغانستان دولت ونشي کولای هند ته ننوځي. وروسته بیا په تعرضي سیاست بدل شو. البته دغه سیاست په بېلا بېلو تکتیکونو سره پر مخ بوتلل شو. په عمومي توګه په

Scanned by CamScanner

افغانستان کې د انګرېزانو د سياست پايله دا وه چې يا په جګړه او نظامي زور او يا هم د ولسلې په سيستم او يا هم د تجزيې او وېش په روش او يا هم د افغاني حکومتونو د کنټرول په روش سره، هېواد په ټوټه ټوټه شوې بڼه ضعيف کړي او له نړۍ څخه يې جلا او متروك کړي او له دنيا والو څخه يې په منزوي شکل وساتي. دوی دا چلند هم پيل کړ چې د افغانستان سياسي خپلواکي له منځه يوسي او نړۍ سره يې رابطه وشلوي او په دغه هېواد کې د نوې پوهې، علم تمدن او فرهنګ د خپرېدو مخه ونيسي. ملت په نفاق او کورنيو شخړو کې ښکېل کړي. دولت د خلکو د کرکې وړ وګرځوي او بهرنيانو (انګرېز) ته يې په مخ اړولو اړ کړي. په عين وخت کې يې غوښتل افغانستان نړۍ ته دروغجن. له دوکې ډك، جعل، غل. وحشي او جاهل معرفي کړي او هېڅ کوم درنښت او تاريخي وياړ ورته پرې نه ږدي. په افغانستان کې د انګرېزانو تر ټولو بده، کرکجنه او ويجاړونکې پاليسي د هغوی د لاسپوڅو په واسطه د هېواد کنټرول کول و. دا څکه که څېري دوی په سيده توګه واك تر لاسه کړی وای، د هېواد خلکو بهرني دښمن پېژاند او د هغه په وړاندې يې خپل دريځ څرګند و. خو د کورني نقاب شاته او په کورنۍ جامه کې راننوتلو خلکو ته دغه پېژندنه ستونزمنه کوله او د دوامدارو ويجاړيو لمن لا پراخېده. د انګرېزانو دغه طرح د اتلسمې پېړۍ له وروستيو (د زمانشاه په دوره) کې پيل شوه او د شلمې پېړۍ تر منځ (د دوهمې نړيوالې جګړې تر پای) پورې يې دوام وموند. انګرېزانو په سياسي عمل، نظامي يرغل. پروپاګند او پټ نفوذ سره په ټولو بڼو کې ګام په ګام دغه چلند پر مخ بوت، البته په يو څه لوړ و ژورو سره. په لومړي پړاو کې يعني په دفاعي وضعيت کې چې کله انګرېزان له ستليج څخه پورې غاړه وو، له دې امله چې زمونږ د هېواد له پولو څخه لرې وو. نو د يو شمېر وسايطو په ذريعه يې د افغانستان په ضعيف کولو لاس پورې کړ او د هغوی استازيو سرجان مالکم[1] او هرفرد بارونت جونز[2] د ايران په قاجاري دربار کې د افغانستان د ويجاړولو لپاره په کار بوخت وو. دغو استازيو دوه الماسونه چې دوه نيم سوه زره روپۍ بيه يې درلوده حريص فتح عليشاه ته، درې ميليونه روپۍ د قاجار خزانې ته، دېرش زره ټوپك او شل توپونه د ايران د دولت اردو ته ورکړل او د خران افغاني ولايت يې هم (د خليفه له کيسې) څخه قاجاري حکومت ته ورکړ. ددغو سوغاتونو په بدل کې قاجاريانو ډېر ژر ومنله چې د فرانسې سياسي هيئت له ايران څخه وباسي او د جنرال ګاردن تړون يې لغو او په نړيوال سياست کې يې د ايران رول ببخي ختم کړ. همدارنګه دېرش تنه انګرېزان ښوونکي او انجينران يې د ايرن په پوځ کې په کارونو وګومارل او د هند لورې ته يې د هر بل اروپايي پوځ د تېرېدو د منع کولو خبره ومنله. همدارنګه ايران دا کوښښ هم کاو چې تر ممکن حد پورې افغانستان ته خنډ وګرځي، چې افغان ځواکونه هند ته ورنشي او همدا چې کله د افغانستان پاچا (زمانشاه) به په دغه ډول سوقياتو باندې پيل کاو، نو قاجاري لښکرو به د شاه له لوري د افغانستان په شمال غربي ولايتونو (خراسان) يرغل وکړ او د افغانستان په کورنيو چارو کې به يې لاسوهنه وکړه. انګرېزانو د افغانستان دننه هم د خپل جاسوسي

---

Sir John Makolm-[1]
Sir Hartord Jones-[2]

Scanned by CamScanner

سروېس په واسطه وکولای شول چې یوه تروریستي ډله د دولت د نړولو او د افغانستان د پاچا له منځه وړلو لپاره وګوماري. د زمانشاه سیال باغي شهزاده محمود هم د ایرانیانو په لاس وسله وال شو او څو ځله افغانستان ته را واستول شو.

د انګرېزانو ددغو فعالیتونو پایله څه وه؟ زمانشاه بندي، ړوند او خلع شو، مرکزي دولت ونړېد. شهزاده محمود او فراري وزیر فتح خان د افغانستان د مرکزي دولت ځای ونیو، فیوډالي جګړې او کورنی نفاق پیل شو او د قاجاریانو حکومت د خراسان ولایت ونیو.

له دې نقشې وروسته د انګرېزانو دوهمه نقشه تعرضي چلند و. دغه تعرضي نقشه د افغانستان د لازیات وېش په توګه تر لاس لاندې ونیول شوه. پایله یې په افغانستان کې د کورنیو جګړو د اور بلېدل، د پنجاب خپلواک کېدل، د پېښور، دېره جاتو د ولایتونو غصب کېدل، له افغانستان څخه د بنو او کشمیر د سیمو جلا کېدل او بیا د سکه په لاس د کشمیر نیول و. سرجان کي[1] په دې برخه کې داسې لیکلي و: هغه کورنی جګړې او بې اتفاقي چې د افغانستان امپراطوري یې دړې وړې کړه، په ختیځ کې د انګلیس د حکومت د پیاوړتیا لامل شوه[2]. د انګرېزانو ددغو فعالیتونو پایله دا شوه چې انګرېزان متې راونغاړي او د افغانستان چارې یو مخیزه کړي، نو د انګلیس صدر اعظم لارډ پالمرستون د هند حکومت ته لیکلي و چې: ددې وخت رارسېدلي چې په کلکه سره د افغانستان په چارو کې مداخله وشي او د هند په لوري د ایران د قلمرو د پراخېدو مخه ونیول شي او د روسیې د نفوذ په وړاندې یو دېوال جوړ شي.

همدارنګه پالمرستون د لندن په پارلمان کې وویل چې: زما عقیده دا ده چې که چېرې مونږ له افغانستان څخه لاس واخلو، د انګرېزانو ډېرې لویې ګټې به مو برباد او له لاسه ورکړې وي او که افغانستان په هر لامل چې وي پرېږدئ، نو داډ اوسئ چې بیا به داسې ورځ راورسېږي چې اړ به شي چې په ډېرو زیاتو تلفاتو سره به دغه هېواد ونیسئ. د هند ګورنر جنرال هم وویل: مونږ باید د خپل وس په اندازه کوښښ وکړو چې په افغانستان کې نور بهرني اعتبارات نفوذ ونه کړي.

زمونږ امنیت په ختیځ کې ددې غوښتنه کوي چې په افغانستان کې داسې یوه دستګاه جوړه کړو چې د بهرني حملې خنډ وګرځي. خو ددې توان ونه لري چې زمونږ له دښمنانو سره ځان ملګری کړي. مونږ باید په دې هېواد کې یو دایمي دېوال جوړ کړو تر څو زمونږ د لوېدیزو او شمالي دښمنانو لپاره خنډ وګرځي. په دې توګه د هند انګرېزانو د سکه له حکومت سره لاس یو کړ او په ۱۸۳۹ کال کې یې د شاه شجاع تر نقاب لاندې له یوه منظم ۴۵ زریز پوځ سره چې یوه سمبال توپچي هم ورسره وه پر افغانستان یرغل وکړ او د هندوکش د جنوب تر لمنو پورې راورسېدل او د ولسلي غړوندی یې د افغانستان په غاړه کې واچاو، دا ځکه چې د انګرېزانو پټې کمپنۍ (۱) د ۱۸۳۲ کال د جون د ۲۵ مې نېټې په خپل یو یادابنت کې د هند ګورنر جنرال لارډ اکلند ته لیکلي وچې: (په افغانستان کې د روسیې د پرمختګ د مخنیوي په خاطر هر څه چې زړه

[1] Sir John kay

[2] قاضي عطاالله، لومړی ټوک، ۲۰۳ – ۲۰۴ مخونه

Scanned by CamScanner

یې غواړي هغه کولای شي)

انګرېزانو له افغانستان څخه د بېرته ستنېدو پر مهال د سند او بلوچستان ولایتونه هم له افغانستان څخه جلا کړل او له انګلیس حکومت سره یې وتړل. ورپسې یې د افغانستان په ختیزو ولایتونو کې د سکهېږد حکومت خای ناستی اعلان کړ له همدې نېټې وروسته د افغانستان په ختیځو ولایتونو کې یې د سکهېږد حکومت خای ناستی اعلان کړ، له همدې نېټې وروسته د افغانستان سیاسي خپلواکي له منځه ولاړه او ختیځ ولایتونه د انګلیس تر پرله پسې ګوزارونو لاندې راغلل. خو انګرېزانو دا هم بس ونه ګڼله، بلکې د هغه د بشپړ له منځه وړلو او د نړۍ له مخې څخه یې د ورکولو نقشه جوړه کړه. لارد ګران بروک د انګلستان د امپراتورۍ د بهرنیو چارو وزیر د ۱۸۷۹ م. کال د اکتوبر د دولسمې نېټې په یوه لیک کې د هند وایسرا لارد لیټن ته داسې لیکلي و: له دې وروسته افغانستان نشي کولای د یوه بشپړ هېواد په توګه موجود وي. په دغه تصمیم کې یواځې د انګلیس د بهرنیو چارو وزیر نه و، بلکې لیټن، رابرټ او بیکنس فیلډ او نورو ټولو د افغانستان تجزیه او بېخي له منځه تلل غوښتل.

په دې توګه لیټن پرېکړه وکړه چې د کابل نظامي اشغال ته دې دوام ورکړل شي. کلنل جان هم د ۱۸۸۰ م. کال د مې په میاشت کې د انګلستان د دولت له لورې د کندهار د تحت الحمایه حکومت توره د سردار مهردل خان کندهاري د زوی سردار شیر علیخان تر ملا ور وتړله او مبارکي یې ورته وویله او د (لیال) په وینا چې دغه لاسپوڅی سردار په تخت باندې. د کښېناستو پر مهال د انګلیس استازي ته داسې وویل: دغه توره به انګلستان ته د خدمت په لاره کې له تیکي څخه راوباسم. او د کابل ولایت هم د ګریفن په لاس د سردار دوست محمد خان زوی سردار ولي محمد خان ته (چې په سردار لاټي- لارډي باندې مشهور و) د یو تحت الحمایه حکومت په توګه وسپارل شو. د هرات د ولایت په هکله سالسبري د ۱۸۷۹ کال په اکتوبر کې لندن څخه په ایران کې د انګلیس سفیر تامسن رونالد ته داسې ولیکل: (هرات، ایران ته ورکړئ په دې شرط چې د خطر پر مهال انګرېزان هرات نیسي). په بل خل روسیې مداخله وکړه او نه یې پرېښودل چې هرات د انګرېزانو په لاس ایران ته ورسیږي او انګرېزان د ایران په نوم په هرات کې مداخله وکړي، نو ځکه د هرات په هکله د انګلیس او ایران خبري اترې بې نتیجې پاتې شوې. په همدې وخت کې لارد تند ردن وړاندیز وکړ د افغانستان او ایران پولې باید د ایران په ګټه وټاکل شي. د افغانستان د شمالي ولایتونو په هکله انګرېزانو وویل چې مونږ به ګورو چې د روس تزاري دولت څه کوي او نورې پېښې په څه ډول پر مخ روانې دي، یعني که چېرې روس غلی ناست و، انګلیس به دغه ولایتونه هم د جلا جلا کوچنیو او تحت الاطاعه حکومتونو په جوړولو سره (د هند د نواب نشیني ګانو په بڼه) وویشي او د هند عملي او دفاعي سرحد به د آمو سیند وګرځول شي، خو که چېرې د روس دولت غلی پاتې نه شو، نو د افغانستان د شمالي ولایتونو د وېش لپاره به انګلیس له روسانو سره یوه جوړ جاړې ته ورسیږي. ورپسې انګرېزانو په ۱۸۸۱ کې ایران ته واندیز وکړ چې افغاني مرو ولایت ونیسي، خو د خراسان والي ځواب ورکړ چې د ایران پاچا دغه سوغات ونه مانه. دا ځکه چې دا مهال د ایران په اداره باندې د روسانو واک ډېر و او روسانو نه غوښتل چې مرو دې د

ایرانیانو په لاس کې ولوېږي، بلکې غوښتل یې هغه په خپله ونیسي. او دوی بیا دري کاله وروسته (۱۸۸۴) کې مرو یوه بې ښتنه مال وګاڼه او خپله یې تر واك لاندې راوستله.

په دې توګه انګرېزانو لکه څرنګه یې چې ویلي و، سمدستي افغانستان د یوه (ګُل) په توګه. د نړۍ له اتلس څخه ورك کړ. لارد لیټن وویل: د انګرېزانو په لاس د افغانستان نظامي اشغال به تر هغه پورې دوام ومومي چې د افغانستان ملت د انګلستان اطاعت کولو سره عادت شي او د امپراتورۍ له ځواك څخه ډېر ښه خبر شي، خو بېکنس فلډ د لیټن له دغه (سخاوت) څخه خوښ نه و او انتقاد یې وکړ چې نه د افغانستان نیول باید د تل لپاره وي، تر څو نړۍ عادت شي چې زمونږ واکمني پر افغانستان باندې پایېدونکې او تل تر تله ده.[1] انګرېزانو په خپلو ټولو دغو کړنو او ظالمانه او دښمنانه چلند کې په پیل کې (د روسانو خطر) تر نامه لاندې او وروسته بیا د (انتي کمونیزم) تر بیرغ لاندې فعالیتونه وکړل تر څو هم نړۍ او هم د انګلستان خلك اغفال کړي. حال دا چې تر کومه ځایه چې د روسیې دولت آسیا ته رارسېدلی و، نور درېدلی و او له آمو څخه د تېرېدو په لټه کې نه و. دا ځکه چې روسیې امپراتوران له لویو اروپایي قدرتونو سره په خپله په اروپا کې په سیالي و او هیله یې دا وه چې اروپا کې ورسره زور و آزمایي. ورپسې بیا روسانو د بالکان او اسلامبول د نیولو خوبونه لیدل، د هند نیول یې ډېر لرې او ډېر لوی خطر و. په ایران کې هم د روسانو او انګرېزانو (ورور ګلویز) جوړ جاړی تر سره شوی و او وروسته وروسته بیا دغه هېواد د ورونو د نفوذ په سیمو کې ووېشل شو. په پای کې د ایران ناپېیلې درېمګړې سیمه هم له منځه یووړل شوه. په اصل کې دا د انګلیس دولت و. چې له دې ډول بخشش څخه وروسته یې، له ایران څه د دفاع پر ځای او د هند د لارې د بندولو پر ځای آرام په خپل ځای کېناست او ایران سره یې نور کار نه درلود، حال دا چې افغانستان هیڅکله هم نه په تېر وخت کې د روسانو تر اغېزې لاندې و او نه هم هیڅکله وروسته بیا د شوروي جمهوریتونو د اتحاد د فعالیت ډګر وګرځېد. دا ځکه چې د شوروي اتحاد ټوله هڅه د لوېدیز د شر په دفاع کې همدا وه چې خپل شاوخوا د بېطرفه هېوادونو یو ډېوال جوړ کړي او له دغه ډېوال څخه د تعرض او پرمختګ امکان نه وي، خو سره له دې هم انګرېزانو د افغانستان د خپلواکي د له منځه وړلو. د بهرنیو چارو د کنترول، د کورنیو چارو د کنترول، او په افغانستان کې د نفاق او کورنیو جګړو د رامنځته کولو او په دغه هېواد کې د هر ډول ترقي او نوي والي د رامنځته کېدو د مخنیوي لپاره دوه پېښې په یوه موزه کې کړې او په کرار نه کېناست، تر څو چې د افغان او انګلیس لومړۍ او بیا دوهمه جګړه ونښته او په پای کې امانیه دولت هم له منځه یووړل شو. د سقوي رژیم له را منځته کېدو وروسته. انګرېزان په ډېره خوښی او رضایت سره دې ته په هیله ناست و چې په څه ډول سره ځوان غورځنګونه له منځه ولاړ شي او افغاني ټولنه د منځنیو پېړیو په حالت کې پاتې شي او څرنګه یو مرتجع. ظالم او لاربنود شوی دولت د افغانستان خلك د اور او وینو په واسطه د یوه ترور. وحشت او زنځیر او زندان په رژیم کې مظلوم. بېوزله او زړه ماتي وساتي. تر څو د تل لپاره د افغانستان په وګړو کې د ترقي غوښتلو. سرلوړي او خپلواکي احساس مړ شي او د انګرېزانو په

---

[1]– و، ګ: (انګلند و افغانستان) د دلیپ کمار تالیف: او (افغانستان) د فریزر تلد اثر

اصطلاح ملت له ذلت، سپکاوي او اسارت سره عادي شي. یواځې هغه څه چې د انګلیس د دولت له خوا نه و درک شوي او انګریزان وربانديې نه وو پوهېدلي هغه دا و چې که فرضاً دا ډول یو پروګرام عملي هم شي، یواځې د نیمې پېړۍ په موده کې کېدای شي چې د حاکمه طبقې په دننه کې یواځې په لویو ښارونو کې دوی اغېزه وکړي او انحراف راوستل شي. حال دا چې د افغانستان د خلکو په میلیونونو وګړي چې ټول په غرو رغو، دښتو، کلیو او درو کې ژوند کوي روغ- جوړ پاتې کېږي او هغه لومړنی فرصت چې په لاس ورشي د هغه په ترڅ کې به د هر کلك غبرګون ښکاره کړي. دا ځکه چې د بشري تکامل د تاریخ نګلوری هیڅکله نه درېږي او نشي کېدای چې یو ملت په مجموعي شکل مسخ شي.

البته دا یو تاریخي واقعیت دی چې د برېتانیا د هغه مهال دولت په هغه وخت کې د نړۍ تر ټولو ځواکمن دولت و، په ختیځ او لوېدیځ کې یې لوی قدرت درلود. یعنې د نړۍ په ۴۵۰ میلیونه وګړو یې فرمان چلاوه، د جنګي وسایلو، تخنیك او اقتصاد له پلوه د نړۍ زبر ځواك و. خو کله چې له افغانستان سره مخامخ شو، تر هغو چې هغو سره د افغانستان دولتونه حریف و ونه توانېد چې افغانستان برې ومومي. خو انګلیس د لاسپوڅي شاه شجاع په واسطه په ۱۸۳۸ – ۱۸۳۹ کې د لاهور او کندهار معاهدات تحمیل او د هېواد ختیځ ولایتونه یې ورڅخه جلا کړل او بیا یې د ولسلې له پلان سره سم خپل نظامي ځواکونه افغانستان ته را دننه او د افغانستان چارې یې خارنې لاندې ونیولې. امیر دوست محمد خان د دښمن په وړاندې یې له جګړې څخه بخارا ته وتښتېد او بیا یې هم کومه جګړه ونه کړه، خو انګریزانو ته تسلیم شو او د خپلې کورنۍ ۱۵۰ غړو سره هندوستان ته ولاړ او ځان یې د انګریز جیره خور او لاسپوڅی کړ. همدارنګه نوموړي د خپل دوهم پلا سلطنت پر مهال د پېښور ترون په ۱۸۵۵ م. کې د افغانستان د خپلواکۍ په ځارولو سره لاسلیك کړ او د هندوستان د انقلاب پر مهال چې څومره خلکو له ده څخه غوښتنه وکړه، د افغانستان د ختیځو له لاسه وتلیو ولایتونو په بېرته تر لاسه کولو یې لاس پورې نه کړ. امیر شیر علي خان هم لکه د پلار په شان له انګریزانو څخه یې له جګړې وتښتېد او له یو بل بهرني دولت (د روسیې تزاري دولت) څخه د مرستې په تمه مزار ته ولاړ، یعنې له باران څخه پاڅېد او ناوې ته کېناست. امیر محمد یعقوب خان د دښمن لښکر ته تسلیم شو او په ۱۸۷۹ کې یې د ګندمك شرموونکی ترون لاسلیك او د ولسلې غړوندی یې په غاړه کې واچاو او د هېواد یو شمېر نورې ختیځې سیمې یې دښمن ته ورکړې او په افغانستان کې یې د انګرېزي لښکرو میشت کېدل او د هېواد په کورنیو چارو کې د هغوی د سیاسي استازي د لاسوهنې د حق لرل او تر کابل پورې د انګلیسانو د تلګراف د کرښې راغځول ومنل. د انګریزانو دا عمل دومره وحشیانه او ظالمانه و چې آن د هندوستان ګورنر جنرال (سر الکساندر اربوت نات) او د لارد لیتن د اجرائیه شورا غړي لندن ته په لیك کې ولیکل چې: له برېتانیا سره د افغانستان تړل د بشر د حقونو برخلاف کار دی او یو تن حکم چلوونکی (امیر محمد یعقوب) نشي کولای چې یو هېواد د بهرني دومینیون تر واك لاندې ورکړي.

امیر عبدالرحمن خان چې ملي داوطلب درې سوه زره سرتېري له ځان سره لرل، پرته له جګړې څخه د دښمن کلابند شوی، وېرېدلی او مخ په تېښته انګرېزي لښکر ته د ملت له توري څخه نجات ورکړ او د

Scanned by CamScanner

انګرېزانو د پام وړ ترون یې ورسره لاسلیك كړ. هغه د ختیځ ټول ډېر مهم ولایتونه د ۱۸۹۳ م كال د ډیورنډ د معاهدې سره سم مات شوي دښمن ته ور پرېښودل او د هېواد خپلواكي یې له انګرېزانو سره د دوستي څخه ځار كړل. امیر حبیب الله خان د ۱۹۰۵ م كال له ترون سره سم د پلار ټول ترونونه په ډېره خوړه بڼه وپالل او په لومړۍ نړیواله جګړه كې یې د انګرېزانو له ډېر ضعف او بد حالت څخه د خپل هېواد په ګټه ګام اوچت نه كړ او له هغوی څخه د افغانستان نیول شوي ولایتونه یې بېرته تر لاسه كړل. په دې توګه انګرېزان په نظامي، سیاسي او تبلیغاتي برخو كې د افغانستان د دولتونو په وړاندې بریالي وو. كه څېرې د افغانستان خلكو په ډېرو پېچلو او خطرناكو حالاتو كې خپل برخلیك د شهزاده ګانو او امیرانو واك ته پرېښی وای، نو بې له شك څخه چې افغانستان به له خپل ټول تمامیت سره له منځه تللی وای، خو داسې نه وه. بلكې كله به چې حكومت د دفاع توره پر ځمكه كېښوده، نو ملت به توره راپورته كړه. په دې ډول انګرېز له خپل ټول هغه ځواك او پرتم سره چې كله د افغانستان له خلكو سره مخامخ شو، نو ناكام به شو. د بېلګې په توګه د افغان ـ انګلیس په لومړي جنګ كې د افغانستان خلكو انګرېزي پوځ تباه، افسران یې ور مړه او د انګرېزانو لاسپوڅی شاه شجاع یې هم ورك كړ، د انګرېزانو ښځې او نارینه یې برمته كړل او هغه ژمنلیك چې دوی خپله غوښته. هغه یې په ۱۸۴۲ كې جوړ او په انګرېزانو یې لاسلیك كړ او امیر دوست محمد خان یې د دښمن له منګولو څخه وژغوره او پاچا یې كړ. همدارنګه د افغان-انګلیس په دوهم جنګ كې د افغانستان خلكو انګرېزي پوځ ته ماتې وركړه او جنرال فریدریك رابرتس یې د كابل د شیرپور په څلورو دېوالونو كې لكه د یو چرګ په شان په یوه قفس كې واچاو او بندي كړی یې و.

په میوند كې یې انګرېزي لښكر لكه د پسونو په شان حلال كړل او جنرال (بر روز) لكه د ډاك خبر رسونكی وتښتېد. د انګرېزانو ملاتړي لكه سردار شیر علي او سردار ولي محمد د ملت له قهر څخه په تېښته شول او آن تر كراچۍ او هندوستان پورې ورسېدل او د افغانستان د كنټرولر (كیوناري) سره یې د هغه له مانۍ سره یو ځای په كابل كې لكه د یوې ډېوې په شان لمبه كړ. په پای كې هغه انګرېزان چې د افغانستان د تلپاتي تجزیې او وېش او همېشني اشغال او د هغه په غاړه كې د ولسلې د طوق د اچولو لپاره راغلي وو لكه د رمې د پاتې شونو په شان یې وهل وخوړل او خپل ورو ستي نفسونه یې تر هند پورې ورسول.

خو د افغانستان ماتې نه منونكو خلكو په یوې بېساري زړورتیا سره چې په نړۍ كې یې ساری نه و. ولې پرېښودل چې د دوی د هېواد پولې ورځ په ورځ كوچنی شي او خپلواكي یې له ګواښ سره مخامخ شي؟ او هغه مهال چې پر دښمن باندې یې زور بر هم و بیا هم ولې د هغوی د غاصبانه ترونونه لاندې راغلل؟ دا ځكه چې دغه ملت له زرګونو كالو راهیسې په دې عقیده و چې د مذهب له پلوه یې یوه پاچا ته بیعت وكړ، نو هغه اولي الامر او د هېواد په كورنیو چارو كې یې وكیل دی او تر څو چې په څرګنده د هېواد او دین له دښمنانو سره نه وي یو ځای شوی د هغه د امر عملي كول پر هر وګړي واجب دي. د افغانستان ملت دغه عام او بې قیده اعتماد او باور د وخت په پاچایانو باندې، ددې لامل وګرځېد چې هر پاچا

وکولای شي په آزادانه توګه له بهرنیانو سره هر ډول اړیکي ولري. خو هغه افغانان چې د افغانستان د ننیځو کړنو څخه بهر پاتې شول او له دغه ډول بیعت څخه هم بهر پاتې وو، هغوی سل کاله نور هم دفاعي جګړې وکړې او د خپلې خپلواکۍ د ساتنې لپاره یې یوه پېړۍ له انګرېز سره څه نا څه نوي خله لویې او کوچنۍ جګړې وکړې. یواځې د ۳۰ کلونو په ترڅ کې انګرېزانو ۳۷۰ خله د افغاني آزادو سرحداتو په ضد سفر برۍ وکړه، خو بیا یې هم ونشو کولای چې د هغوی آزادي او خپلواکي ور څخه واخلي. په دې توګه آن دښمن هم په دې باندې اعتراف وکړ او ویې ویل چې تر دغو آزادي غوښتونکو، ننه طبع او زړور خلک نور په نړۍ کې نشته. ګریفي خپل د ۱۸۷۷ کال په یادداشت کې لیکي: د انګرېزانو سفربرۍ د افغاني آزاد سرحدونو خواته ځکه په پرله پسې ډول تر سره شوې چې هر جدا قوم د انګرېزانو د قدرت اندازه وکوري. لیتن چې د افغانستان د خلکو ګوزارونو زړه چاودی کړی و، د افغاني آزادو سرحداتو په هکله یې داسې ویلي و: د سرحد منظره په نړۍ کې ساری نه لري، دا ځکه چې د نړۍ بو ډېر پرمختللی متمدن قدرت وروسته تر ۲۵ کاله مسالمت آمېزه اشغال څخه هم ونشو کولای چې په خپلو نیمه وحشي (!) ګاونډیانو (ګواکې د هغه مقصد افغانان دي) واک ومومي او د برېتانیا قلمرو د هغې د ډېر لوی لښکر کوټ څخه د یوې ورځې په فاصله سیمه کې هم محفوظ نه دی او د انګلیسانو ژوند د هغوی د سرحداتو په یو میلي فاصله کې له کلک ګواښ سره مخامخ دی.[1]

انګرېزانو د افغانستان د ضعیفو حکومتونو په وړاندې هم په ټولو سیاسي لیکونو، تړونونو او مخاطباتو کې هم دوی ته ډېر درانه القاب او عنوانونه استعمال کړي او هغوی یې لوړ (برتر) ګڼلي. هغوی امیر دوست محمد خان، امیر محمد یعقوب خان او امیر عبدالرحمن خان ته د (هز هاینس) کلمه یعنې والاحضرت لقب استعمالاوه. د افغانستان ددغو پاچایانو د مخاطبې طرفونه د هند ګورنر جنرالان او ددغو پاچایانو د معاهدې طرف په خپل عالي شکل سره د هند د بهرنیو چارو سکرتران وو. د انګرېزانو نوم او عنوان به د افغانستان د پاچا له نوم او عنوان څخه مخکې ذکر کېده او د افغانستان د پاچایانو له لقبونو څخه به یواځې (جناب) لیکل کېده. حال دا چې په خپله انګرېزانو ځانونو ته د یوه تاریخي اضمحلال د تلافي لپاره په افغانستان کې وروسته تر څلوېښتو کلونو څخه په تسلیم شوي امیر محمد یعقوب خان باندې د ګندمک په نوم په ګندمک کې یوه فایقانه معاهده لاسلیک کړه. لکه هماغسې یې چې د کیوناري د وژلو په مقابل کې د کابل بالاحصار ونړاو او د مکناټن او برنس د غچ او کسات په بدل کې یې د کابل بازارونه په وینو ولړل او ویې سوځول.

د بېلګې په توګه: د انګلیسي او امیر دوست محمد خان تر منځ د ۱۸۵۵ م. کال د مارچ د دېرشمې نېټې د تړون لومړۍ ماده داسې وایي: (د آنریبل ایست انډیا کمپاني او جناب امیر دوست محمد خان د کابل والي او هغه سیمې چې په واک لري او ددغه امیر د ورثه وو تر منځ به سوله او دوستي دایمي وي) له امیر عبدالرحمن خان سره د د ۱۸۹۳ م. کال د نوامبر د دولسمې نېټې د ډیورنډ تړون په دغه الفاظو سره پیل شوی وه: (یوې خواته د افغانستان او د هغه د متعلقه سیمو د امیر جي بي، اس، آی جناب امیر

---

[1]- فریزر ټلر، د افغانستان نومي کتاب.

Scanned by CamScanner

عبدالرحمن خان او د هند د عالیه دولت د سکرتري او د بل طرف د عالیه دولت د وکیل او نایب کې. سي. الي، ای، سي، اس اي فارن او سرهنري مارتیمر ډیورنډ تر منځ تړون کېږي چې لکه څرنګه چې د افغانستان له لوري د هندوستان طرف ته د سرحد پر سریو شمېر ستونزي پیدا شوې دي او لکه هغسي چې هم جناب امیر صاحب او هم د هغه عالیه دولت د دغې ستونزي حل په دوستانه اتفاق سره غواړي او دواړه د خپل تسلط د دایرې د حدودو د ټاکلو غوښتونکي دي. تر څو بیا په راتلونکي کې کوم د فکر او خیال اختلاف په دغه موضوع کې د هم عهده او هم پیمانه دولت تر منځ واقع نشي. نو ددغې لیکنې په وسیله تړون داسې تر سره شو:....)

د امیردوست محمد خان د ۱۸۵۵ م. کال تړون درې مادې لري، د هغې په دوهمه ماده کې داسې راغلي دي: انګلیس به هیڅکله په هغو سیمو کې مداخله ونه کړي کومي چې همدا اوس ددغه امیر تر واک لاندې دي.

په دریمه ماده کې راغلي دي: د کابل والي جناب امیر دوست محمد خان او د هغه ورثه د کمپنۍ په قلمرو کې مداخله نه کوي او د آنریبل ایست اندیا کمپني دوستانو سره به دوست پاتې کېږي او ددغې کمپنۍ له دښمنانو سره به دښمن پاتې کېږي. (!)

د ډیورنډ تړون اوه مادې درلودې چې یوه نقشه هم ورسره نښلول شوې وه. ددغې نقشې له مخې او د تړون د لومړۍ او دوهمې مادې له مخې د افغانستان ختیځو او جنوبي پولې له واخان څخه تر ایراني پولو پورې او بیا د انګلیس له لوري په خپله د دوی په خوښه ټاکل شوې دي او امیر عبدالرحمن خان ژمنه وکړه چې هغه به مني. په دریمه ماده کې امیر عبدالرحمن خان په دې باندې ژمن شوی و چې د سوات، باجوړ، چترال، ارنوی، وزیرو او د اور په سیمو باندې د افغانستان له دعوې څخه تېر دی. په پېنځمه ماده کې امیر چمن هم انګرېز ته پرېښې او د (سرکي تلري) حقابه یې هم ورکړې وه. په اومه ماده کې ویل شوي و چې د هغې ډېري دوستانه طریقې له امله چې جناب امیر صاحب په دغو خبرو اترو او معامله (یعني د ډیورنډ معاهده) کې کړي و د هند عالیه دولت په کال کې یو میلیون او دوه سوه زره روپۍ چې همدا اوس جناب ممدوح (امیر) ته ورکوي په هغو کې په کال کې شپږ سوه زره زیاتوالی راولي.

خو هغه تړون چې د افغانستان د ملت رهبرانو (۱۲ تنو) د افغان- انګلیس په لومړۍ جګړه کې او په هغه وخت کې چې لا د انګلیس اردو په کابل، جلال آباد او کندهار کې و له انګلیسانو سره کړې (د ۱۸۴۱ م د دسمبر ۱۱ مه چې د ۱۲۵۷ هـ ق ذوالقعده اکرام له ۱۲ مې سره برابر و) په دې توګه و:

(هغه قرارداد عهد او میثاق چې د عالیجاهان معلي جایګاهان حشمت او شوکت دستګاهان نواب مستطاب معلي القاب نواب عالي نواب محمد زمان خان، او نایب الثاني رفیع مکاني والاجاي نایب امین الله خان (لوګري) او پاتې نورو نوابانو او سردارانو د ټولو مسلمینو د ډلې مشرانو له انګلیسیه طایفې باوقاره صاحبانو سره کړی دی چې په راتلونکي کې ستونزي له منځه تللي وي او دوستي او یووالی کلك پاتې وي، په دې برخه کې شرط او شرایط وټاکل شول چې په لاندې توګه دي:

- لومړی شرط دا دی چې د صاحبانو (انګرېزانو) په غوښتنه چې له دې لوري به سرداران وټاکل شي چې د صاحبانو پوځ په مخ په جلال آباد ځي او د لارې په ترخ کې به ستونزه ورته نه پیدا کېږي. ذوي الاقتدار سرداران سردار محمد عثمان خان او سردار شاه دوله خان به ورسره د تګ په مهال وټاکل شي.
- دوهم شرط دا چې د جلال آباد لښکر (انګرېزي پوځ) به د کابل د لښکر له رسېدلو څخه مخکې پېښور ته روانیږي او وروسته له دې د ځنډ کولو اجازه نه لري.
- دریم شرط دا چې د غزني لښکر (انګرېزي پوځ) به ډېر ژر خپل چمتو والی نیسي د کابل له لارې نه د کندهار له لارې) به پېښور ته ځي او ځنډ به نه کوي.
- څلورم شرط دا چې په کندهار او نور افغانستان کې کوم لښکر چې شته (انګرېزي لښکر) ډېر ژر به هندوستان ته ځي.
- پینځم شرط دا چې د امیر دوست محمد خان کوم مال اسباب د بندګانو چې له صاحبانو سره وي لکه توپچي او نور هغه دې ټول بېرته ورکړي.
- شپږم شرط دا چې که چېرې له صاحبانو څخه کوم توپونه، جبه خانه، باروت، ټوپک او نور اسباب چې نشي بارېدلای او پاتې کېږي هغه به ټول نواب محمد زمان خان ته سپارل کېږي.
- اوم شرط دا چې هغه څه چې د شاه شجاع د کورنۍ مال د نه بارګیري له امله دلته پاتې کېږي هغه به په بالاحصار کې د حاجي خان کور ته سپارل کېږي. کله چې د امیر دوست محمد خان بندګان او نور افغانان له خپلې کورنۍ سره یو ځای پېښور ته ورسېدل، نور نو رخصت دي او دوی به هندوستان ته ځي.
- اتم شرط دا چې کله چې د صاحبانو پوځ پېښور ته رسیږي، نو د امیر دوست محمد خان د بندګانو او نورو افغانانو په اړه دې پرېکړه وکړي چې له خپل کور او کورنۍ سره ژر کابل ته په خیر او خیرت سره راولیږي.
- نهم شرط دا چې شپږ تنه معتبر او اعتباري انګلیسي صاحبان به د یرغمل په توګه دلته په کابل کې تر هغو پورې وي تر څو چې امیر دوست محمد خان او پاتې نور افغانان د هغوی له کورنیو سره یو ځای پېښور ته راورسیږي، بیا به دغه یرغمل ور رخصت شي.
- لسم شرط دا چې بل ځل به انګلیسي صاحبان په هیڅ توګه د افغانستان د هېواد غوښتنه نه کوي. او نسل په نسل به د دواړو تر منځ دوستي او یووالی کلک پاتې وي او افغاني سرکار به کله چېرې د بهرنیانو د دفع لپاره کومه مرسته غواړي، انګلیسیه سرکار به د هغو په تبلیغ کې برخه اخلي، په دې صورت کې به افغاني سرکار کوم بل پردي سرکار ته، پرته د انګلیسي د سرکار له خبرتیا څخه کومه ژمنه نه کوي. که چېرې له هغه لوري څخه د مرستې په رسولو کې ځنډ پېښ شي، نو بیا افغاني لوری واک لري چې څه وکړي.
- یوولسم شرط دا چې که چېرې له انګلیسي صاحبانو څخه کوم صاحب د ځینو لاملونو له کبله نشي تلای او دلته پاتې شي نو د صاحبانو په غوښتنه به له هغه سره ډېر ښه چلند کېږي.

Scanned by CamScanner

دولسم شرط دا چې انګریزان څومره توپونه چې لري له هغو څخه دې یوائې شپږ اسپي او درې قاطري توپونه یعني ټول نهه توپونه خان سره واخلي نور دې دلته پرېږدي او نواب عالي ته دې ورکړي او د دواړو دولتونو راتلونکی خیر او شر دې واحد او متحمد کړي که څېري د مسلمانانو ټولنه او یاد انګلیس صاحبانو طایفه یا بل کوم څوك له دې تړون څخه سرغړونه کوي مسلمانان به په خپل دین او آئین کې او انګلیس صاحبان به خپلې طریقې او قانون سره سم دروغجن او سرغړونکي وبلل شي او په عالم کې به ملامت (پړ) و ګرځول شي.

دغه څو ټکي د تړون په توګه ولیکل شول چې د دواړو لوریو لپاره سند وي.

تحریر ۱۴ ذي القعده الحرام سنه ۱۲۵۷ هجري افغاني مهر او لاسلیك کوونکي: یاصاحب الزمان. نواب جبارخان، غلام محمد خان. خانګل خان، صوفي خان بایاني. محمد ناصر خان. نایب امین الله خان، عبدالرسول خان، محمد یار خان. عبدالسلام خان د خواجه میر خان زوی.[1]

دغه تړون د افغانستان د خلکو د اخلاقي شجاعت او سیاسي شعور یوه بشپړه او ریښتیانې بېلګه ده چې د یوه ډېر لوی ښکېلاکګر ځواك او منظمو انګریزي ځواکونو په وړاندې په ډېره ساده ګۍ او پرته له هر ډول درباري تجمل او مجاملاتو څخه یې د توري په زور په پردیو لاسلیك او خپل ملت یې په ریښتیانې بڼه تمثیل کړی دی. په داسې حال کې چې دغو لاسلیك کوونکو نه دولت او نه هم کوم سیاسي تشکیلات لرل او نه د نظامي قوت لرونکي وو. او نه یې هم ځانونو ته وزارت یا امارت او سلطنت غوښت بلکې خپله ملي دنده یې د خپل وطن د ساتنې په برخه کې په زړورتوب او بې له هر ډول ریا او ځان ښودنې څخه تر سره کړې ده. ددغه ملي تړون او د هغو نورو سیاسي تړونونو پرتله کول یو بل سره چې د افغانستان امیرانو مخکې له هغه او وروسته تر هغه له انګریزانو سره لاسلیك کړي وو، د افغانستان د ملت فکري لوړوالی او اصالت د یوه فاتح او اتل ولس په توګه ثابتوي.

خو په افغانستان کې د انګریزانو جاسوسي فعالیتونه د هغوی له نظامي فعالیتونو څخه هم ویجاړونکي او اغېزمن وو. د افغانستان دولتونه د انګریزانو د جاسوسي فعالیتونو په وړاندې بېخي تش لاس او عاجز و او کومه دفاع یې نشوه کولای، دا ځکه چې د افغانستان په دولتونو کې د جاسوسي ضد منظمه اداره نه وه موجوده او که څه شي و هم هغه فقط په خپله د افغانستان دننه د افغانستان د خلکو په هکله و او بس، نو ځکه د انګریزانو د جاسوسي عمالو کار او فعالیت چې په پټه یې فعالیت کاو د تل لپاره پټ و، خو یو شمېر یې چې په ښکاره توګه د نړۍ ګرځېدونکي، طبیب، سوداګر، ژباړونکي، ښوونکي، مامور، مهاجر، سیاسي پناه غوښتونکي او نور و په بڼه افغانستان ته راتلل، هغوی یو څه په ښکاره ډول جاسوسي فعالیت کاو او ځینې وخت به د هغوی فعالیت بېخي ښکاره شو. انګریزانو دافغانستان د پېژندنې په پیل کې، د جاسوسانو په ټاکلو او ګومارلو کې یوائې په انګریزانو

---

[1]- د مجموع عسکري کابل له مجلې څخه اخستل شوی. ۱۳۰۰ ش. کال د سلواغې میاشت، چې تړون له اصلي نسخې څخه اخستل شوی او هغه په کابل موزیم کې ساتل کېږي.

Scanned by CamScanner

باور کاو، د بېلګي په توګه میجر ایلدرد پاټنجر[1] (۱۸۱۱ – ۱۸۴۳)، چې یو مهال د بمبئ د توپچي بو غږي و او بیا وروسته د سند د سیاسي چارو مرستیال شو، په ۱۸۳۷ کې د یوه سوداګر په بڼه کابل ته راغلی و او بیا د یوه هندي ملا په څېره کې هرات ته ولاړ. کله چې پر هرات د ایرانیانو یرغل پیل شو. پاټنجر وپېژندل شو او یو شمېر فعالیتونه یې تر سره کړي وو. هغه په ۱۸۴۱ کې د کابل د شمالي په کوهستان کې هم یو څه جاسوسي وکړه او په ۱۸۴۲ کې د افغاني مبارزینو په لاس کې برمته شو. هغه بیا وروسته د جنرال پالك په لاس له بند څخه را خلاص شو. له دې امله چې هغه په افغانستان کې د خپلو فعالیتونو په لړ کې دوه میلیونه روپۍ لګولې وې، د انګرېزانو له خوا محاکمه شو خو بیا بېرته تبرئه شو. او چین ته د هانکانګ د ګورنر یعني خپل تره د لیدلو لپاره ولاړ او همالته مړ شو.

مستر کمپل[2] بل هغه جاسوس و چې د ۱۸۳۳ کال د فراري شاه شجاع د هغه نظامي یوه کنډك افسر و چې پر کندهار یې یرغل وکړ، خو شاه شجاع په دغه جګړه کې له ماتې سره مخامخ شو، کمپل وروسته ترټېي کېدو څخه ونیول شو او بیا مسلمان شو. امیر دوست محمد خان چې لکه د نورو افغانانو په شان د مذهبي عاطفي لرونکی و، دغه نوي مسلمان شوي ته یې څلور سوه روپۍ معاش مقرر او هغه یې د کابل د اردو د توپچي د قوماندان په توګه وټاکه، خو کله چې په ۱۸۳۹ کې انګرېزانو، شاه شجاع او سکهانو په افغانستان باندې یرغل وکړ، او امیر دوست محمد خان کمپل (شیر محمد خان) ته د دفاع امر وکړ. هغه له انګرېزانو او شاه شجاع سره له جګړې څخه مخ واړاو.

کله چې امیر دوست محمد خان وتښتید دغه نوموړی شیر محمد بیاهم د شاه شجاع د ګارد د یوی قطعی افسر مقرر شو او د کابل د پاڅون کوونکو مبارزینو په ټکولو کې یې کارنده برخه واخیسته. په پای کې د نوموړي دغه قطعه ټوله تباه شوه او خپله ژوندی پرېښودل شو چې مسلمان شوی و. کله چې انګریزان او شاه شجاع ناکام شول او امیر دوست محمد خان بېرته کابل ته راغی، د حیرانتیا وړ خبره ده چې دغه شیر محمد په بلخ کې د یوه پنځلس زره کسیز اردو د قوماندان په توګه مقرر شو او هلته په بلخ کې د بلخ والي سردار محمد افضل خپل دولس کلن زوی سردار عبدالرحمن خان (چې وروسته بیا د افغانستان پاچا شو) هغه سره شاګرد کړ. کمپل شیر محمد دغه هلک ته په درې کالو کې یوائې سوان کاري او یو څه جراحي په ورځ کې درې ساعتونه ورزده کول او دغه هلک بې سواده و، سردار د دغه انګریز تر اغیزې لاندې راغلی و، ترڅو چې په ۱۷۵۸ کې ومړ.

یو بل جاسوس رابرت لیچ([3]) نومید. هغه مخکې تردې چې افغانستان ته په رسمي بڼه راشي لا پخوایې د افغانستان په ختیزو ولایتونو کې یو څه وخت تیر کړی و او ډېر معلومات یې ترلاسه کړي وو. آن داچې

---

1- Eldered pottinger
2- Campbell
3- R. Leech د کلات د تاریخ لیکوال.

Scanned by CamScanner

سرالکساندر برنس[۱] چې په کابل کی یې په پاچاهی دربارکې د انګلیس ددولت استازیتوب کاو، لکه څرنګه چې د فریزر تتلر له لیکنی ښکاري هغه له منشی مکناټن څخه په کلکته کې یولیک اخیستی و او د سوداګریزو خبرو اترو لپار دنده یې په استخباراتی دنده بدله شوه.

(د تتلر کتاب، ۹۲مخ). د انګریزانو د همدې چلند له امله د بخارا پاچا امیرنصرالله خان په ۱۸۴۲ کې په خپل دربار کی د انګلیس استازی کلنلی ستدرات له مستر کنولی سره یوځای اعدام کړ، داځکه چې د هغوی پټ لیکونه د امیر لاس ته ورغلل چې د ایران او افغانستان انګریزانو ته یې لیکلی وو.

هغه په تهران کی د انګلیس سفیر مکنیل ته لیک لیږلی و او انګریزان یې هڅولی وو چې په بخارا باندې یرغل وکړی. ستدرات د مکنیل له خوا د بخارا دربارکی ګومارل شوی و او وزیر یار محمدخان له هرات څخه په لیکلی توګه د بخارا امیر ته خبر ورکړی و چې دغه سړی جاسوس دی. کنولی په خوقند او خیوه کې ګرځیدلی راګرځیدلی و او بیا بخارا ته رسیدلی و. خو په افغانستان کې دغه ډول انګریز اتباع له ډیرو ستونزو سره مخامخ کیدل. داځکه چې د خلکو له دود-دستور، مذهب او عادتونو سره آشنا نه وو. نوځکه انګریزانو په ختیزکی د سیمې خلکو ته پاملرنه وکړه او له هغو څخه یې جاسوسان پیدا او وروزل. د بیلګې په توګه دوی د زمانشاه پرمهال د میا غلام محمد هندي په واسطه د پاچا په ضد یو سازمان جوړکړ او سیمه ییز خانان یې د هغه په ضد ولمسول. دغه ډول یوبل سړی موهن لال و چې په سند او بلوچستان کې یې انګریزانو ته ډیر زیات خدمتونه ترسره کړل. هغه په ډیلي کی دري او انګریزي ژبی زده کړی هغه د افغان-انګلیس په لومړی جګړه کې په افغانستان کی د انګریزانو د جاسوسی شبکی بنسټ کیښود.

د بلوچستان والی (میرمهراب خان) ته د کندهار د سردارانو له خوا پټ لیکلی شوی لیک همده ترلاسه او هغه یې انګریزانو ته ورکړ. دغه سړی په ایران کی د آغا حسن کشمیری په نوم او په افغانستان کې د میرزا قلی کشمیری په نوم پیژندل شوی و. میرمهراب خان ته کندهاری سردارانو لیکلی و چې باید بلوڅان په افغانستان باندې د انګریزانو د یرغل مخه ونیسی. همدرانګه همدغه موهن لال په افغانستان کې یوشمیر مهم خلک د ملی ګټو په ضد ولمسول او د انګریزانو په ګټه یې استعمال کړل لکه محمد طاهر، حاجی خان کاکړ، عبدالمجید خان اخند زاده، په کندهار کی د سردارانو مامورین لکه غلام او ملا نصوح او په غزني کی د امیزدوست محمدخان خوربی عبدالرشید خان او ګڼ شمیر نور. موهن لال په بامیان کې د انګریزی بندیانو د خلاصون لپاره ډیرې هلې ځلې کړې او په کابل کی یې د انګریزانو د ماتې پرمهال له خپل پټون ځان څخه د ښار د مهمو پیښو او ملی مجاهدینو په هکله معلومات انګریزانو ته لیږل او خپل صاحبان یې له هرڅه خبرول. سره له دې هم له دې کبله چې موهن یو هندوستانی و، نه اروپایی، نوکله چې انګریزان نور ورته اړ نه وو، نو هغه یې د هند په کوڅو کې پریښود. هغه خوار

[۱] - A. Burnes چې شمالی هندوستان او افغانستان او ایران او بخارا ته یې سفرونه کړی او یوشمیر آثار یې هم لیکلی (لکه د کابل یادښتونه، په لندن کی په ۱۸۴۲ کی چاپ شوی. چې نقشې او انځورونه هم لری او بل یې د بخارا سفر نامه). دغه سړی په کابل کی ووژل شو. د کابل یادښتونه یې ډیر په زړه پوری کتاب دی چې په لندن کی چاپ شوی دی.

Scanned by CamScanner

د آرډر اف دی امپایر، نایت اف دی پرشین لاین) په نومونو کته پورته ډېرې منډې وکړې او خپل چوپړونه به یې په لیکلي او شفاهي بڼه انګریزانو ته وړاندې کول، ترڅو له هغوی څخه یو څه بود کړي، نو هیڅ کله یې ترلاسه نه کړه او همداسې مړ شو.

موهن لال (د امیردوست محمد خان ژوند) ترسرلیک لاندې دوه ټوکه کتابونه لیکلي دي چې باید په پوره غور سره ولوستل شي، داځکه چې د افغانستان په هکله د انګریزانو او د هغوی د ګومارل شویو لیکنې زیاتر د نفاق اچولو او د پاکو خلکو پرلمن باندې په تور لګولو باندې ولاړې دي. هغه یوه فاضله او مسلمانه ښځه درلوده. چې حیدري بیګم نومیده. دغې ښځې په ۱۸۵۷ کې (روزنامچه انقلاب دهلي) لیکلې وه چې هغه انګریزانو ونیوله.

انګریزان چې څومره افغانستان ته را نژدې کېدل، هغومره د خلکو له دود-دستور او عادتونو او د لومړې طبقې له غوښتنو سره آشنا کېدل او د مذهبي احساسات له اندازې هم خبر شول او په دې هم وپوهیدل چې دغه خلک څومره د خپل اسلامي پاچا امر او نهی ته اطاعت کوي، له همدغو ملي ځانګړتیاوو څخه د ناوړه استفادې لپاره یې د انګلیس عمالو پرځای له هندوستاني بې لارې شویو مسلمانانو څخه کار اخیستل پیل کړل، ترڅو چې خبره د سند د سیند غاړو او بیا د افغانستان دننه ته ورسیدله. انګریزان افغان-انګلیس په لومړۍ او دوهمه جګړه کې زیاتره د فیوډالانو اهمیت او د روحانیونو نفوذ ته متوجه شول. همدارنګه د افغان-انګلیس له دریمې جګړې څخه وروسته د هیواد په کورني او بهرني سیاست کې د روښاندو فعال رول ته ځیر شول، نوځکه انګریزانو هڅه کوله چې په هره وسیله چې ممکنه وي د دغو ډلو عمومي افکار له ټولنیزو مترقي جریاناتو څخه واړوي. د انګریزانو مسلمان مستخدمین چې له سند څخه را واوښتل، نو هریوه ته به د ملا، مولوي، مولانا، شاه او سید لقبونه ورکړل شوي وو، او هسې په نامه به یې د خلکو د غولولو لپاره ځانته (انتي برتش) ځیره غوره کړه او له هندوستان سره د یووالي او د اسلام د آزادۍ چیغې به یې وهلې، نوځکه به دوی د افغانستان د دولتونو او ساده خلکو له خوا په ډېر شفقت او خواخوږي منل کېدل او یوشمیر به یې د افغانستان د نظامي او ملکي چارو لوړ مامورین وګومارل شول، نو دا وخت به دوی د بهرنیانو لپار په فعالیت بوخت شول.

د نولسمې پیړۍ له پیل څخه د شلمې پیړۍ تر پای پورې دغه ډول خلک د هر دولت په هره دوره کې موجود وو. د بیلګې په توګه د امیر دوست محمد خان پر مهال د قطغن (تخارستان) په لښکرکي افغاني سواره نظام قوماندان باقر علیشاه هندوستاني و او د امیرشیرعلیخان په دوره کې د هرات په پوځ کې د پلي سرتیرو جنرال کریم بخش خان هندوستانی و.

د همدغه سړي د جنرالي په دوره کې سپهسالار فرامرز خان په یوه توطئه کې په مرموز ډول ووژل شو او کریم بخش خان په خپله د سپهسالار کفیل شو. خو نوی جنرال داود شاه خان دغه شکمن کفیل او بهرنی جاسوس په زنځیرونو وتاړه او کابل ته یې راواستاو.

امیرشیرعلیخان هغه څه ورسره وکړل چې پلار یې له جنرال شیرمحمد (کیمپل) سره کړي وو، یعنی هغه

Scanned by CamScanner

یې له بندي توب څخه خلاص کړ او د کابل په اردو کې یې د جنرال په توګه وګومار(۱) که دغه ډول خلکو په افغاني لښکر او دربار کې نفوذ نه درلوداى. نه امیر دوست محمد خان او نه هم امیرشیرعلیخان په آسانۍ سره بې له کومې جګړې د انګریز له یرغل څخه تښتیدل، داځکه چې دوی هر یوه سره زړور ملت او فداکار لښکریان وو.

د انګلستان دولت په افغانستان کې له خپلو مسلمانو متحدمینو (چوپړیانو) څخه ناوړه استفادې کولې چې هغه ډول استفاده له انګریز جاسوسانو څخه ناممکنه وه. نوځکه د افغان-انګلیس تر دریمې جګړې (۱۹۱۹) پورې د انګلیس ټولو دایمی استازیو د مسلمان په څیره کې دنده درلوده. له دغو مسلمانانو څخه وروسته کله چې په خپله انګریزی وزیر مختار کابل کې میشت شول، د هغوی مرستیالان هم مسلمانان وو. د بیلګې په توګه د غازی امان الله خان پر مهال د افغانستان په ختیزو پولو کې، شیخ محبوب علیخان پنجابی د پاړه چنار پولیتکل اجنت و او د هغه مرستیال سکندرخان ایبټ آبادی و. وروسته بیا کله چې سر همفري د خیبر پولټیکل اجنټ کابل ته د انګلیس د وزیر مختار په توګه راغی، شیخ محبوب علی خان د هغه د ختیز سکرتر په توګه ورسره ډیر نژدې مرستیال شو او په کابل کې یې د انګلیس د سفارت پټ او ښکاره زیات شمیر فعالیتونه پرمخ بیول. ترڅو د همده ارمان پوره او په افغانستان کې یې یو خونړی ارتجاعي اړ-دوړ په ډیره خوشحالي د سر په سترګو ولید کله چې محبوب علی بیرته هند ته ستون شو هلته تقاعد او په یو مرموز مرګ مړ او تر خاورو لاندې یې کړ ویل کیږي چې هغه وورسته تر تقاعد څخه د خپل جاسوسي په هکله ځینی کیسې کولې چې هغه باید افشا شوی نه وای. کله چې له اړ-دوړ څخه وروسته د پاړه چنار پولتیکل اجنټ آقای میکانیکي د کابل په دربار کې د انګلیس وزیر مختار شو. نو همدغه ذکر شوی سکندرخان یې د ختیز سکرترو چې وروسته بیا په پنجاب کې متقاعد او همالته مړ شو. د پیښور پولیتکل اجنټ بهادر قلی خان ختک و او په کویټه کې خان بهادرخان بریخ و. او خان بهادر عین الدین خان بامیزایي د انتلجنت سرویس دریس (مستردیو) مرستیال و چې د افغانستان په وړاندې یې فعالیتونه کول. ممکن په داسې حالاتو وکې وویل شي چې په ختیزکی د لویدیزی اروپا ددولتونو د ظلم اندازه، یواځی له مستعمره هیوادو څخه ګټه اخیستل او ددوی د استثمار کلو نه و. بلکې د استعمار او ښکیلاککرو لوی جنایت داو چې هغوی د مستعمره هیوادو اولادونه داسې روزل چې هغوی خپل وطن ته خیانت او پردیو ته خدمت یوډول ویاړ او یو عادي ښه کار وبولي!...

په افغانستان کې د یوه انګلیسی مسلمان عامل کیسه ډیره له عبرت څخه ډکه ده: د قاضیانو یوې کورنۍ د احمدشاه ابدالي له وخته راهیسې په پیښور کې ژوند کاو. په دې کې یوتن قاضی محمدحسن نومید چې د خیبر د غابښي په لعل بوره نومي سیمه کې له سرالکساندر برنس سره مخامخ شو او یوبل سره په پټه یوې موافقې ته ورسیدل. دغه قاضي د شاه شجاع په دربار کې د خان العلماً لقب ترلاسه کړ او د خپلې کورنۍ یوه نجلۍ یې وزیر فتح خان ته ور واده کړه. کله چې شاه شجاع هند ته تښتید نوموړی

۱- یعقوب علی، د افغانستان وروستي پاچایان، دریم ټوک ۱۲۸مخ.

Scanned by CamScanner

ورسره ملګرى او د هغه ملا امام و.
همدغه قاضي د سند له حاکمانو او رنجیت سنګه سره په خبرو اتروکې د شاه شجاع استازیتوب کاو. د لاهور په درې اړخیز تړون کې هم همدغه سړي د شاه شجاع پرځای لاسلیک کړی دی او د افغانستان ملي خپلواکي او ځمکنی بشپړتیا یې خپلو متبوعه انګریزانو باندې وپلورله. له هغه څخه وروسته د قاضي مړی ژوندی معلوم نه شو. د دغه قاضي یو بل خلف الصدق قاضی غلام قادر نومید چې د پېښور د والي سردار سلطان محمد خان یو درباري و چې وروسته بې بیا د هندوستان د انقلاب په ورځوکی انګریزانو ته ډېر زیات چوپړ وکړ.

انګریزانو نوموړی د پېښور د اقتصادي مسایلو. د کابل په چارو او د افغانستان د پولو په برخه کې وېر وارد باله. دده زامنو قاضی محمد جان او قاضی نصرالله د هغو زیات شمیر خدمتونه په بدل کې چې انګریزانو ته یې کړي وو له خپلو انګلیس بادارانو څخه (د خدمت تصدیق) ترلاسه کړ. د همدې کورنۍ یو بل تن د قاضي حسن زوی قاضی طلامحمد و چې شعرونه یې هم لیکل او له سردار غلام محمد خان طرزي سره یې د لیکونو په ذریعه اړیکي درلودې.

کله چې طرزي په پېښور کې هغه سره لیده کاته وکړل، خوښ یې نه شو او بدیې وګاڼه. خو د قاضیانو د کورنۍ ترټول (اتل) قاضي، عبدالقادر و چې په قاضی قادرو باندې مشهور و. نوموړی د قاضي فضل قادر زوی او د نامتو قاضی حسن لمسی و. هغه له قاضي محمد جان سره یوځای خان د امیرشیرعلیخان دربار ته ورساو او هلته په آسانۍ سره ومنل شو. قاضي په دري، پښتو، پنجابی او انګریزی ژبو باندې پوهید، ښه خطابه یې کولای شوه او لیکوال هم و. هغه خان د امیرشیرعلیخان واک کی ورکړ چې دا مهال امیرشیرعلیخان د انګریزانو مخالف و. دغه قاضي یو شمیر نظامی تعلیمنامی، موعظی او د افغانستان لومړنۍ جریده (شمس النهار) کې مقالې ولیکلی. په دې توګه دغه قاضی خان ته د امیرشیرعلیخان په دربار کی دومره اعتبار ومونده او خان یې دومره وړاندې کړ چې خان یې د امیرشیرعلیخان نظامی منشي او د بهرنیو چارو سکرتر باله. هغه یو ځل د امیر شیرعلیخان په امر د روسي له حالاتو څخه د خبرېدو په خاطر هغه هېواد ته سفر هم وکړ، کله چې جنرال استولیتوف د روسي استازی د کابل له دربار سره خبرو ته راغلی و، قاضي د افغاني هیئت یو غړی و. هغه د روسیې او افغان ترمنځ د ۱۸۷۸ کال تړون د سر په سترګو ولید.

هغه ټول لیکونه (۵۴ لیکونه) چې د امیرشیرعلیخان او د مرکزی آسیا د روسي والي کافمان ترمنځ لیږل رالیږل شوی هغه ټول دده په لاس کی وو. سره له دې چې انګریزانو وویل چې دغه لیکونه د بالاحصار د نړیدو پر مهال د افغانستان له شاهي دفتر څخه ددوی لاس ته ورغلی[1] خو په واقعیت کی دغه قاضي هغوی ته ورکړی وو. وروسته تر هغه چې امیرشیرعلیخان له انګریزانو سره بی له جګړې له کابل څخه فراه ته وتښتید، قاضي چې د هغه موکل و. ورسره و. امیرشیرعلی خان له مزار څخه مرکزی آسیا ته له روسانو سره د خبرو

[1]- د کابل په دربارکی د ایران مختار وزیر مرزا سیدی فرخ دغه لیکونه د (نظری به مشرق) کتاب کې راوړی و.ګ: جلد اول-تاریخ سیاسی افغانستان، د ایران چاپ، ۱۳۴۱ (۱۹۳۵م.)

Scanned by CamScanner

لپاره یو هیئت واستاوه چې دلته هم قاضي د دغه هیئت یو غړی و. خو قاضي د دې پرځای چې د امیر په ګټه له روسانو سره خبرې وکړي د سردار عبدالرحمن خان (د افغانستان راتلونکي پاچا) په لټون یې لاس پورې کړ چې دا مهال روسیې ته تللی و. او هغه یې د امیر په ضد ولمساوه ترڅو د افغانستان تاج او تخت ترلاسه کړي. داخل قاضي یواځې نه و بلکې سردار شیرعلیخان کندهاري هم ورسره ملګری و چې هغه هم د هیئت غړی او د انګریزانو ډیر کلک پلوی و. او وروسته بیا انګریزانو د همدغه (کندهاري) په لاس کندهار تجزیه کړ او غوښتل یې هغه له افغانستان څخه جلا کړي. په دغه هیئت کې یواځې یوتن مرزا شاه محمدخان و چې خپله دنده یې په صادقانه توګه ترسره کړه. امیرشیرعلیخان په مزار کې په مرموز ډول مړ شو او افغاني هیئت له روسیې څخه راستون شو.

یوه ورځ همدغه قاضي د کابل په پل خشتي جومات کې (کله چې انګریزان په کابل باندې واکمن وو)، د یوه شرعي وعظ په ترځ کې خلک د سردار عبدالرحمن خان پلویتوب ته وهڅول، خو خلکو سردار محمد ایوب خان غوښت. داځکه چې سردار محمد ایوب خان د عبدالرحمن خان برخلاف یو غازي او د انګریزانو دښمن و. نوځکه خلکو په قاضي حمله وکړه او ښه یې وټکاوه. قاضي وکولای شو ځان ژوندی خلاص کړي او نور نو له کابل څخه ورک شو. له کابل څخه کونړ ته ولاړ او هلته د کونړ د سیدانو په یوه کورکې میشت شو او له هغه ځایه به یې د کابل پیښې ځارلې او پېښور کې به یې واتر فلډ، یعنې د دغه ځای کمشنر ته راپورونه ورکول. کله چې لیپل ګریفن کابل ته راغی، بیا قاضي په پټه جامه کې ورسره ملګری و. کله چې امیرعبدالرحمن خان پر تخت کیناست. قاضي په پټه له امیرسره پاتې شو ترڅو انګریزان د امیر په مرسته روغ- رمټ له افغانستان څخه هندوستان ته ورسیدل. هغه وخت نو بیا د انګریزانو استازی محمد افضل خان کابل ته راغی او قاضي قادر و له کابل څخه پېښور ته ولاړ.

محمد افضل خان هندوستان ته یو تبنتیدلی سدوزی و چې هلته انګریزانو تر روزنې لاندې نیولی و. دده ورور عباس خان د بلوچستان د شالکوټ د پولټیکل اجنټ سرویس مامورو. د عباس خان زوی عظیم الله خان په پنجاب او بلوچستان کې د (اکسترا اسسټنټ کمشنر) په توګه کارکاوه او وروسته بیا په ۱۸۹۲ کې په پټه سره په پېښور کې د امیرعبدالرحمن خان په خدمت کې شو. د هغه راپورونه به په پټه توګه د مرزا امیرمحمد علیخان په واسطه چې د پېښور د افغاني ډاک آمر و، کابل ته رارسیدل[۱] وروسته بیا همدغه سړي د کابل په دربار کې ځای وموند او له ژباړې څخه تر وزارت او سفارت پورې ورسید. هغه د سقوي اړ-دوړ پر مهال د قطغن او بدخشان والي و، او شورشیانو ته یې بیعت وکړ او د قطغن ولایت یې ورته تسلیم کړ.

کله چې قاقي قادرو پېښور ته ولاړ، د خپلو هغو ډیرو غټو ټولنیزو ګناهونو د پاکولو لپاره چې ترسره کړې یې وو، کعبې ته ولاړ او بیا بیرته بمبۍ ته راغی او وروسته له څو مودې ګمنامۍ څخه مړ شو. ډیر وروسته کله چې قضا د قاضي کارونو ته خیر شوه، (د قاضي د کورنۍ د اوصافو په هکله د تصدیقونو نسخې)، ترعنوان لاندې رساله په انګلیسي ژبه پیدا شوه چې د کویټې په البرټ مطبعه کې چاپ شوې

---

[۱]- سراج التواریخ، فیض محمد، جلد سوم، د کابل چاپ، ۱۳۳۳ش (۱۹۱۴م). ۱۱۹۲مخ.

وه. په دغه رساله کې هغه لس تصدیقونه راغلي چې انګریزي مامورینو له ۱۸۷۹ څخه تر ۱۸۸۲ پورې د هند د مرکزي حکومت د استازي ګریفن، د پېښور د کمشنر کور ديري، د هزاره د کمشنر واتر فلد، له سملې څخه د ایچسن، له پېښور څخه ادوارد، له بمبئ څخه برنس او له پېښور څخه ادوارد ورته لیکلي او لېږلي وو. دغه لیکونه په افغانستان کې انګریزانو ته د قاضي قادرو (صادقانه چوپړ) تشریح کوي. قاضي چې خپله ټوله شتمني د انګریز خدمت ته وقف کړه، یوازې ۳۰۰ روپۍ معاش یې په یوه میاشت کې ترلاسه کاو او د خپل ژوند په پای کې په ډېره بېوزلۍ او تنګلاسې کې ومړ. دلته به د دغې رسالې یو لیک راوړو:

«د اندور نماینده ګۍ- د ۱۸۸۴ کال د دسمبر پنځلسمه: د هند د مرکزي حکومت د استازي لیپل ګریفن په لاس لیک.

د هغه ډېر غوره قابلیت او ډېرو ښو معلوماتو له امله چې قاضي قادرو د افغانستان د سیاست په هکله درلود، زه هغه د خپل یوه مرستیال په توګه ټاکم. د پېښور په دفترونو کې د هغه په هکله ناسمې خبرې کېدې، ما هغه وآزمایه، زه چې د چا په هکله څخه وایم هغه په ریښتیا هم همغسې وي. د قاضي کار زما لپاره ډېر ارزښتمن و او د هغه سلا - مشورې هم ډېرې غوره او سمې وې. زه هغه ته په دومره اوچته سترګه ګورم چې هغه مې له افغانستان څخه د خپل راتګ پر مهال د والا حضرت امیر (عبدالرحمن خان) د یو معتمد مشاور په توګه پرېښود، ترڅو هغه ته ډېر مهم مهم کارونه وکړي، نوموړي هغه مهال هندوستان ته راغی چې محمد افضل خان د کابل په دربار کې د انګریزانو د استازي په توګه وټاکل شو، زما د ډېر کلک سپارښت له امله. حکومت قاضي ته د دري سوه کلدارو معاش (مشاهره) وټاکه، خو لاهم یو ځوان او ډېر فعال دی او هیڅ شک نه لرم چې لا به هم ډېر فرصتونه په مخ راشي چې قاضي به د انګریز د حکومت سترو ګټو ته استعمال شي. که زه بیا په افغانستان کې مامور کېدای، البته له قاضي څخه به مې استفاده کوله. داځکه څومره چې زه پوهېږم زمونږ هیڅ وطني مامور او افسر په هندوستان کې د افغانستان په اړه معلومات نه لري. او کله چې زه افغانستان وایم زما مطلب یوازې کابل نه دی بلکې، هرات، کندهار او بدخشان هم پکې راځي.»

داو په افغانستان کې د انګریز د یو څرګند جاسوس یوه بېلګه چې دلته د جریدې مدیر، د پاچا سیاسي او نظامي مشاور، د روس له دولت سره د خبرو اترو لپاره د افغانستان د دولت د سیاسي هیئت غړی، او د یوه مسلمان قاضي په جامه کې د انګریز سړی چې د انګریز ضد نقاب یې اغوستی و. ددې بېلګې په هره دوره کې د هر دولت په وخت کې لیدل شوې دي د بېلګې په توګه د امیر محمد یعقوب خان ډېره لنډه او کاواکه دوره کې لیدل کېږي چې یو هندي د منشي بختیار خان په نوم (چې د امیر شیرعلیخان پر مهال په کابل کې د انګلیس سفیرو) د هغه ترڅنګ و او د ګندمک د شرمناکې معاهدې یو مهم لامل و. امیر محمد یعقوب خان د همدغه سړي له لیک څخه وروسته دې ته اړ شو چې خامخا به په ګندمک کې دغه تړون لاسلیک کوي او له هغه سره یو ځای ګندمک ته ولاړ او په دغه تړن یې لاسلیک وکړ.

د هزاره جات په پاڅون کې دوه انګریزي جاسوسان په کار بوخت وو، یو یې محمد علي نومېد چې هم د

پاڅون کوونکی په منځ کی او هم یې د امیر د لیږل شوی پوځ په منځ دوه مخیزه رول لوباو هغه په دري او پښتو ژبه خبری کولې بل جاسوس هغه د پاخه عمر هندي میرمن وه چي ځان یې د ګیاه پیژندونکی په توګه ښودلی و او په هزاره جات کی ګرځیده راګرځیده، همدرانګه په هرات کې دوه نور جاسوسان د ملا رحمت الله مشهدی او ملا رمضان توخي په نومونو وو. چي امیر عبدالرحمن هغوی روغ-جوړ د کابل له لاری وایستل

د افغانستا د ځینو برخو د بخشش کولو او د دیورند د کرښی د ټاکلو پر مهال هم یوتن د صاحبزاده عبداللطیف په نوم په پکتیا کې را پیدا شو او د پکتیا د والی سردار شیرندل خان د پیشکار تر دریځ پوری ورسید. ددغه سړی واک ترهغه برید پوری ورسید چي په ټولو سرحدی چارو او حد بخشي کی برخمن و هغه یو قادیانی مذهبه و. قادیاني مذهب په انګلیسي هند کې پیدا او پیاوړی شوی و. ددغه مذهب بنسټ ایښودونکی مرزا غلام احمدخان قادیان (د پنجاب د قادیان کلی له نوم څخه اخیستل شوی او دغه سړي ویل چی په مذهب کی یې نوی والی راوستی دی) و. چې په ۱۹۰۲ کې یې په یوه وینا کې اعلام وکړ او ویې ویل چې هند باندې د انګلیس واکمن کیدل یوه الهی لورینه ده. همدارنګه هغه د انګریز په وړاندې د مسلمانانو جهاد حرام وباله او ویې ویل چې جهاد یواځې د شفاهي تبلیغ په معنا ده. د پرنګی استعمار په وړاندې ددغه مذهب روغه-جوړه لکه په ایران کی د بهایي مذهب په شان وه چې په خپله په ایران کې وټکول شو، خو د روسیې د امپراتوري دننه یې وده وموندله. ددغو مذهبونو د دیني ریفورم په نوم د ختیز د ښکیلاکګرو په وړاندې دینی عصبیت په تیره بیا د عیسوي استعمار ګرو په وړاندې د مسلمانانو غوسه کموله، خو دغه یوه مذهب هم نشو کولای چې د افغانستان په پیاوړی ټولنه کې اغیزه ولري. د بیلګې په توګه همدغه صاحبزاده عبداللطیف قادیاني ددغه فرمایشی مذهب د تبلیغ له امله په افغانستان کې اعدام شو. وروسته بیا یوه بل قادیاني مبلغ ملا نعمت الله په ۱۳۰۳ش. کی په کابل کی پیدا شو او هغه هم اعدام شو. همدارنګه کله چې نامتو سپهسالار غلام حیدرخان په جلال آباد کې د انګریزانو د پرمختګ په وړاندی مبارزه پرمخ بیوله او د نورستان ولایت یې افغانستان پوری وتاړه، یو هندی چې په ځان یې احمدجان خان حکیم نوم ایښی و له دوو اړ-دوړ کوونکو (ملک موسی او ملک جافت) سره لاس یوکړ او ددولت له طرفدارو موندو سره یې ځان جلال آباد ته را ورساو. له هغه څخه وروسته دغه سړي د طبیب په توګه له سپهسالار سره یوځای شو او هیڅ کله ورڅخه جلا نه شو او آن دا چې د نورستان د نیولو پر مهال هم د کامدیش د نیولو د مفرزی د قوماندان په توګه سپهسالار سره و. په نورستان کی د خپل فعالیت له امله لومړی د کلنل رتبه ورکړل شوه او بیا د بریګید رتبې ته او بیا په تخارستان کې د عضدالدوله نایب او په پای کی کابل کې د (سان و چهره) ددفتر مشر شو. مولوی غلام رسول خان یوبل سړی و چی له غازي خان دیرې څخه هرات ته ولاړ. هغه هلته څلور کاله افغانی طالبانو ته سبق ووایه. خو له دې امله چې تبلیغ یې ډیر څرګند او برالا و نو وپیژندل شو او امیرعبدالرحمان خان هغه اعدام نه کړ. خو له افغانستان څخه یې وشاړه. د امیرحبیب الله خان په دوره کی ددغه ډول شکمنو خلکو شمیر زیات شو او د افغانستان په معارف او صحیه کې یې لار وموندله.

Scanned by CamScanner

آن دا چې په خپله د امیر حبیب الله خان روغتیا او د درملنه د هندي ډاکتر الله جویان خان په لاس کې و، چې دغه ډاکتر د افغانستان د غونډ مشري نظامي رتبه هم درلوده. یوه هندي وطنپال ډاکتر (ډاکتر عبدالله) په فراه کې ویل چې الله جویا به غیر صحي پیاوړي کوونکي درمل امیر ته ورکول. ترڅو چې امیر له طبیعي حالت څخه ووت او د هیواد چارو ته یې نور پام نشو کولای او کارونه ورڅخه پاتې شول ځینې وخت به دغه ډول هندیانو ته چې وخت په لاس ورغی نو دوی به د افغانستان په وړاندې داسې بې ځلند غوره کړ لکه انګریزانو چې په هندکې د دوی په وړاندې درلود. دا مهال له یوې خوا په نړۍ کې لومړۍ نړیواله جګړه پیل شوه او له بلې خوا ځوان هندوستان د انګلیس په ضد د آزادۍ مبارزه پیل کړه او افغانستان یو ځل بیا د هندوستان د ځوانانو د مهاجرت ځای وګرځید. له دې څخه مخکې هم د هندوستان نامتو مبارز سید احمد بریلوي کابل او کندهار ته راغلی و. سره له دې چې هغه د امیر دوست محمد خان په دربار کې او د پېښور او کندهار د سردارانو په دربارونو کې ناکام شو. خو بیایې هم وکولای شول چې د سند د غاړو د افغانانو د ځواک ترسیوري لاندې د پنجاب د سکه دولت د واکمنۍ په وړاندې جګړې پرمخ بوځي. د هندیانو په دغه دوهم ځل مهاجر کېدو او راتګ سره د افغانستان دولت او ملت هغوی ومنل او ښه راغلاست یې ورته ووایه. کله چې په ١٩١٤م. نړیواله دوهمه جګړه ونښته. د افغانستان په سرحدي آزادو ولایتونو کې انګلیسي ضد سیاسي او نظامي فعالیتونه شروع و. له یوې خوا افغاني ملي رهبران لکه اخند زاده فضل محمود او حاجي ترنګزایي (د دغه وروستي سړي ځوی پاچاګل نومید چې د افغانستان له اړ دوړ څخه وروسته کابل ته راوغوښتل شو او زیات بخشش ورکړل شو او په کوهستان کې ورته یوه اندازه کرنیزې ځمکې هم ورکړل شوې) او بل یې د کابل په حربي ښوونځي کې په دنده ګومارل شوي ترکي ارکان حرب خیرالدین پاشا او بل هم احمد عرب و چې د افغانستان په آزادو پولو کې یې فعالیتونه کول. دوی ټولو د افغانستان د حکومت د کینې لاس له مرکز څخه هدایات او مالي مرستې ترلاسه کولې. د حکومت دغه کینې لاس د امیر حبیب الله خان د ورور نایب السلطنه سردار نصرالله خان او د هغه د مامورینو له خوا رهبري کید. یو ځل د حکومت دغه کینې لاس یو اندازه سره زر او اویا زره روپۍ د آزادو سیمو د مبارزینو د لګښت لپاره د کوټې د پاچا صیب او د هډې د استاد صاحب (چې لکه د اخند زاده مرحوم د سوات عبدالغفور او ملا نجم الدین صاحب د هډې په شان عمل لرونکي عالمان وو) په لاس هغوی ته ور ولېږلې، نایب السلطنه د سرحداتو په چارو کې د امین الاطلاعات ناظر محمد صفر خان په مرسته کار کاو. له پولې هاخوا لوی روحانیون او غیزمن مشران په کار بوخت وو. لکه ملا صاحب چکنور (عالم با عمل سړی و)، حبیب الرحمن کاموي، د هډې استاد او نور. حال دا چې امیر حبیب الله خان به د نایب السلطنه نظریات نه منل او د هغوی چارې به یې د مرزا محمد حسین خان مستوفي الممالک او یو شمیر نورو لویو درباریانو په مرسته تر څارنې لاندې نیولې، یعنې په دې څارنه کې به هغه چاور سره مرسته کوله چې له انګلیس سره د جوړ جاړي د سیاست پلویان وو. په دې کې یو هم ضیا معصوم صاحب وو چې په ټولو درباریانو یې معنوي اغیزه درلوده. امیر حبیب الله خان به هرکال ډېرې زیاتې پیسې د آزادو سرحداتو مشرانو ته د حاجي عبدالرازق خان

اندړ په لاس ورلیږلې او هغه به یې کوله چې په دغه پیسو سره د سرحد خلک دې ته‌کې ته را وبولي چې د انګریزانو په وړاندې جهاد پرته د امیر المؤمنین (په خپله دی) له اجازې څخه شرعاً نا روا دی. خو دغه آزادي غوښتونکی خلک هیڅکله دده په خبرو ونه غولیدل او یوځل د لوګر او کوهستان او کابل خلک هم د ملا نجم الدین صاحب له فتوا سره سم چې هغه د آزاد سرحد یو هېرو ، د هغوی مرستې ته حاضر شول. امیرحبیب الله خان په غوسه شو او ناظر محمد صفرخان یې له دندې لرې او بندي یې کړ او د موسهی ملا محمدجان اخند زاده یې نظر بند کړ او امریې وکړ چې د حاجی عبدالرزاق خان زیره وشکوي. سره له دې هم کله چې آلماني-ترکي سیاسي هیئت (ندر مایر او کاظم بیک) په ۱۹۱۷م. کال کې افغانستان ته راغلل او په انګلیسي هندیې د افغانستان له لوري د یرغل غوښتنه وکړه، امیر یو مشورتي مجلس جوړ کړ او دا موضوع یې وڅیړله. تر نورو مخکې نایب السطنه پاځید او ویې ویل: له انګریزانو سره دې جګړه اعلان شي. زه کندهار ته او معین السطنته د خیبر محاذ ته ځو، ترڅو د توري په زور د افغانستان له لاسه وتلی سیمې بیرته خپلواکې کړو. امیرصاحب دی په کابل کې زمونږ ملاتړ کوي. د مجلس ډیرو خلکو د نایب السطنته پلوی وکړه، خو په خپله امیرحبیب الله متعاهد انګلیس سره د جګړې اعلان رد کړ او معین السلطنته د پلار خبره تایید کړه. سره له دې چې امیر حبیب الله خان په دې برخه کې له آلمان-تواك هیئت سره یو مشروط قرار داد لاسلیک کړ. خو په معناکی هیئت له افغانستان څخه ناکام ستون شو. په دغه هیئت کې دوه تنه هندیان (راجه مهندر پرتاب او مولوی برکت الله) هم وو، داځکه چې د لومړی نړیوالې جګړې زیات شمیر هندی آزادي غوښتونکي په اروپاکی وو.

او په برلین کې سره راټول شوي وو او د جرمنی د بهرنیو چارو د وزارت په ملاتړ یې د هند ملی ګوند (اندین نشنل پارتی) جوړ کړ. دغه مولوی برکت الله هم لکه د (هردیال) په شان ددغه ګوند غړی و. دغه ګوند هڅه وکړه چې مهندر پرتاب او برکت الله د آلمان-ترک د هیئت د غړو په توګه افغانستان ته ورشی او په کابل کی هڅه وکړي چې د افغانستان پاچا د آلمان-ترک په اتحادیه کی شامل کړي او د نیپال راجا هم ورته را وبولي، خو په خپله د هند د استازیو ترمنځ هم په نظریاتو کې توپیرو ، داځکه چې هندو د اکثریت هندیانو استازیتوب ته لیوال و خو مسلمان غړي د اقلیت مسلمانانو نمایندګی کوله او باید د اکثریت متابعت یې کړی وای. په هرحال نایب السطنته په سرحداتو کې خپل فعالیت ته دوام ورکړ. په همدې وخت کې په هند کې د آزادي غوښتونکو لارښود شیخ الهند محمود الحسن چې ځان یې د سید احمد بریلوی او د هغه د ملګری مولوی اسمعیل سیاسی لاروی باله، فیصله وکړه چې انګریزان باید فقط د وسلې په زور له هند څخه وایستل شي. دده دغې موخې لپاره د هندوستان یوشمیر آزادي غوښتونکی په ۱۹۱۵م. کال کې کابل او افغانی آزادو سرحداتو ته د مرستې لپاره خواره کړل. په دوی کی مولوی عبیدالله سندي (جدید الاسلام)، عبدالله، فتح محمد او محمد علی هم وو چې کابل ته راغلل. شیخ الهند چې په خپله عربستان ته ولاړ او له ترکانو سره یې خبرې وکړې، نو د استعمارګرو اروپاییانو په ضد یې د مسلمانانو د جهاد اعلان د غالب پاشای ترکي په لاسلیک خپور کړ او یوشمیر دغه اعلانونه یې د مسلمانانو په عنوان د خپل مجاهد ملګر مولوی منصور (چې اصلي نوم یې محمد میان و) په لاس کابل ته راولیږل.

Scanned by CamScanner

همدا مهال کابل د هندوستان د آزادي غوښتونکو مرکز وګرځید. د هند موقتي حکومت او جنود الله ګوند او د هندي مجاهدينو ګوند همدلته د نايب السلطنته به تائيد سره رامنځته شول. د هند موقت حکومت په پيل کې له دری تنو څخه جوړ و: راجه مهندر پرتاب (چې د حکومت ريس و)، مولوی برکت الله (صدراعظم) او عبيدالله سندی (د کورنيو چارو وزير).

وروسته وروسته بيا په دغه حکومت کی ترکان او آلمانيان هم ورګډ شول. ددغه حکومت لومړنی درې مرکزونه دا و: په پيل کې کابل، بيا نيپال او په پای کی بنګال. د افغانستان د استقلال له جګړې څخه وروسته د هغه غړي زيات شول، خو د افغانستان دولت ددغه حکومت فعاليت په افغانستان کې مجاز و نه باله، نو ځکه يې غړي نورو هيوادونو ته ولاړل. د جنود الله په ګوند کی په پيل کې هندی مجاهدين وو، وروسته بيا يو شمير هغه افغانان چې د حاجی ترنګزايي لارويان وو، هغوی هم کابل ته راغلل او دلته دغه ګوند سره يوځای شول.

له بلې خوا د لاهور د کالجونو يوه پنځلس کسيزه ډله زده کوونکی هم د مهاجرينو په توګه له هند څخه کابل ته راغلل، لکه مولوی الله نواز خان ملتانی او د هغه ورور شهنواز خان، عبدالحميد خان ديره اسمعيلی د هغه ملګری او عبدالحق جديد الاسلام، مولوی ظفر حسن خان کرنالی، مولوی رحمت علی کجرانواله، عبدالحميد لوديانه ئی، عبدالخان او عبدالرحمن (لاهوری ورونه).

عبدالقادر خان لاهوري، عبدالباري خان لاهوري، داکتر شجاع الله، مولوی احمد حسن (اصلی نوم يې خوشی جالندري و وروسته بيا د انقلابی اشتراکی جمعيت غړی شو)، مولوی يعقوب حسن (اصلی نوم يې محمد حسن خان و) او عبدالرشيد لاهوري. يواځې دوی نه. بلکې له دوی څخه مخکې او له دوی څخه وروسته يو زيات شمير هندي افغانان او هنديان کابل ته راغلل، چې په دوی کې لاندنی نومونه د يادولو وړ دي: قاضی عبدالولی خان، مولوی سيف الرحمن خان ديوبندی (اصل کی د کندهار و)، ډاکتر فقير محمد خان بنوبي، مولوی عبداللطيف خان کوهاتی، حکيم اسلم خان او قاضی محمود خان سنجري، صاحبزاده زکريا خان، فقير احمد خان، غلام رضا خان، ذوالفقار خان، ميرمحمد صديق خان، تولی مشر علی دولت خان (پخوا د انګريزانو نظامی منصبدار و)، مولوی محمد علی خان (وروسته بيا د تاريخ پروفيسر)، مولوی محمد صديق خان. محمد يعقوب خان سکاوت (د خان بهادر عين الدين خان باميزايی زوی چې کويتی د انتلجنت سرويس د ځانګی مرستيال و)، فضل قادر خان پيښوری، شيرعليخان او محمد نعيم خان او مير بخش خان کوهاتي، ميرصاحب خان او ورور يې او څو تنه د پنجاب سدوزايي سرداران او د کويتی سرداران او نور.

همدرانګه شيخ محمد ابراهيم خان سندي، مولوی محمد عليخان قصوري، علی عباس خان بخاري، مولوی فضل ربی خان ديوبندی پنجابی، عبدالرازق خان، مولوی محمد اکبر خان، ډاکتر نور محمد خان (دا چاريه کربلايي خوربی)، سيد عبدالله خان (چې په شاه جی سره ياديد، خو اصلي نوم يې قربان حسين خان و)، مولوی جمال الدين خان، ډاکتر قريشی، ډاکتر سيد عبدالغنی شاه خان، ډاکتر سيد رشيدالدين خان، ډاکتر عبدالروف خان، ډاکتر احمد علی خان، ډاکتر عبدالحميد خان، ډاکتر محمد علی خان، ډاکتر جواهرې،

Scanned by CamScanner

ډاکتر عبدالله خان، ډاکتر عبادالله خان، ډاکتر دلاور علی خان، ډاکتر هاشمی، عبدالخالق خان، بابو خان، حاجی عبدالغفور خان، حاجی عباس خان او نور هم دلته راغلل.

افغانستان ته ددغو هندیانو راتګ د هند تر آزادي او د پاکستان تر جوړولو پورې نور هم زیاتید. ددغې ګبې ګوښې او تګ راتګ په بهیر کې د هندي رښتیانیو آزادي غوښتونکو او انقلابیونو ترمنځ او نورو ناپییلون او آن خلکو سره پیژندنه او اړیکې لکه د ویښتانو د یوې کلوښتې په شان سره وپیچل شول.

په هرحال دوی په افغانستان او له هغه ځخه بهر بیلابیل او ځانګړی سرګذشتونه درلودل. د بیلګې په توګه ددوی یوشمیر لکه مولوی عبیدالله سندي، مولوی ظفرحسن، رحمت علي، خوشي احمد، مترا سنګه (وروسته د انګریزانو لاس ته ورغی او ویې واژه)، مولوی برکت الله، مهندر پرتاب او نور په نورو بهرنیو هیوادونو لکه روسیه، ترکیه، اروپا، جاپان او نورو ځایونو کې د هندوستان د خلکو په نوم سره په سیاسی فعالیتونو لګیا شول. خو دوی کوم ډیر مهم کارونه ونشو کولای نوځکه بیا هم د کار اصلی تکی هندا افغانستان او د افغانستان سرحدونه وو. خو له دوی ځخه یوشمیر یې په مسکو کې د بندرانات تر مشری لاندې سره ټول شول او هلته یې هندي اشتراکي جمعیت جوړ کړ او مهندر پرتاپ د آزادي غوښتونکی هند په نوم یو څه اړیکې له روسیې سره وساتلې. نور پاتې افغاني آزاده سرحداتو کې په سیاسی فعالیتونو بوخت پاتې شول لکه مولوی محمد بشیر شهید (اصلی نوم یې عبدالرحیم لاهوری و) او د مجاهدینو وکیل او ملګري یې په چمسرکند (باجوړ) کې. یا هم مولوي یعقوب حسن خان، عبدالرشید خان، او نعمت الله خان له څه نا څه اتیا نورو هندیانو سره چې په باجوړ، تیرا او وزیرستان کی وو.

یوشمیر نور په کابل کی بوخت وو، چې افغانی مقاماتو یې ملاتړ کاو. په دوی کی یوشمیر یې وفات شول لکه عبدالمجید دیره اسمعیلی، عبدالرحمن (دغه سړی تر اشتباه لاندی راغلی و)، شیخ محمد ابراهیم سندی، عبدالله او نور په دوی کی یوشمیر له دولت ځخه زیاتی کرنیزې ځمکی ترلاسه کړي لکه مولوی منصور او مولوی سیف الرحمن او مولوی فضل ربی. آن دا چې مولوی سیف الرحمن خان او مولوی منصور په شورروی اتحادکې د افغانستان د فوق العاده استازیو د غړیو په توګه هم و پیژندل شول.

د هند د موقت حکومت د کورنیو چارو وزیر مولوی عبیدالله سندي ددوی په هکله د خپلو کابل یادداشتونو په ترڅ کې لیکلي وو چې:

"کله چی انګریزانو کابل ته ولیکل چی باید مولوی منصور او مولوی سیف الرحمن له کابل ځخه وایستل شي. نو مولوی منصور د افغانستان آزاد سرحد ته ولاړ. خو مولوی سیف الرحمن د یوشمیر دوستان په ملاتړ د میلمه په توګه د مستوفی الممالک (مرزا محمد حسین خان) په کور کې پاتې شو. مولوی د انګریز د سیاست په اړه په یوشمیر چاروکی له مستوفی سره مرسته کوله، د بیلګې توګه د دیوبند یو فارغ یې هند ته واستاو چې له هغه ځایه د انور پاشا لیک چې د شیخ الهند په لاس په پټه توګه ددیوبند په مدرسه کې پټ شوی و او انګلیسان د هغه د موندلو په لټه کی وو، او هغه د افغانستان د پاچا (امیرحبیب الله خان) په نوم و را پیدا کړی، خو دغه هڅه ناکامه شوه ځکه چی دغه لیک د مدرسې د یو ګومارل شوی سړي په لاس سوځول شوی و. همدارنګه هغه مهال چې عبیدالله او دده ملګري په کابل کې نظر بند شول، ټول مستوفی ته وسپارل شول او مولوی سیف الرحمن ددوی ځارنه کوله. ددوی له ډلي ځخه یوشمیر یې د سقوی اړ-دوړ ځخه وروسته

اغتشاش پای ته ورسید، بندیان شول لکه حکیم اسلم خان. قاضي محمود سنجري. غلام محمد خان او بې سنګه او دلبر خان هوتلی، غلام رضا خان او نور. يو څو تنه يې اعدام هم شول لکه اميرالدين خان. فقير احمد خان. دوران خان او مولوی عبدالطیف خان يو شمير نور يې د افغانانو او هنديانو په ګډون د افغانستان د دولت لوړ رتبه مامورين شول لکه ذوالفقار خان په جاپان کې افغاني سفير او د بهرنيو چارو مرستيال. علي دوست خان چې په افغانستان کی ورته جنرالي نظامی رتبه ورکړل شوه. الله نوازخان د سلطنتی دربار وزير او په آلمان کې د افغانستان سفير او سيد عبدالله شاجي چې د افغانستان د بوټ جوړولو او حربی فابريکو رئيس او د نايب سالاری رتبه يې لرله دغه سړی افغانستان ته په هجرت سره له الله نوازخان مهاجر سره يوځای وچې هغه د افغان او جرمنی وأکنر د حمل او نقل د يوه شرکت مامورو. په دنده بوخت شو هغه په پنجاب کې د تقلبی سکې په کونډه کولو تورن شو او د انګريزانو د پوليسو ترڅارنې لاندې راغی. خو پوليس د هغه په لټه کې وو، ترڅو چې افغانستان ته راغی او پناه يې واخيسته. دلته هغه وويل چې ما څکه تقلبی سکې کونډه کولې چې د هندوستان آزادي غوښتونکو سره مرسته وکړم په هرحال. هغه په افغانستان کی په سوداګري بوخت شو ترڅو چې لکه رستم جی (د بمبئی او سيدونکی) او هندي حکيم جان غوندې په کابل کې يو ډير شتمن سوداګر شو. هغه د ۱۳۴۱ ش کال د سلواغی په مياشت (۱۹۲۳ م) کې ومړ او په نظامی مراسمو سره د کابل په شهدای صالحين هديره کې خاوروته وسپارل شو. البته د ټولو هغو هنديانو شمير نه چې له نيمی پيړۍ راهيسی دلته په کابل کې په کار بوخت و، په دغه کتاب کی ناشونې ده. خو بيا هم افغانستان ته ددغو هنديانو په راتګ او دلته په ميشت کيدو سره بې، دوی يو شمير بې عجيب کارونه وکړل د بيلګې په توګه يوه هندي چې ځان يې په ملا عمادالدين خان مشهور کړی و په کابل کی څو تنه وهڅول چې يوه پټه تروريستی ډله جوړه او امان الله خان ترور کړي. خو دغه تروريستی ډله د خپل فعاليت په ترڅ کی لاس په لاس ونيول شوه او يو شمير بې ورک کړل شول. خو په خپله ملا عمادالدين چې ددغې ډلې مهم غړی و، ځان وايست او چيرته ولاړ. همدرانګه د سوداګري وزارت ژباړونکی مولوی محمد اکبرخان هندي د افغانستان د هغه مهال د ځوانانو له دوو مهمو سياسی ډلو سره رابطه درلوده. په ډير مهارت سره يې دغه داره ډلې يوبل سره اچولې او له دې امله چې ددوئ له جاسوسي کړی سره يې هم اړيکې وې، نو په خپله پاچا بې د کابل په روشنفکران شکمن کړی و. د روڼاندو په ضد چې کوم راپورونه نوموړی پاچا ته ورکول، يو راپور ددولت د شور د غړي فيض محمد خان ناصري په هکله و. شاه امان الله دغه راپور علنی کړ او د ځيرنو امهې ورکړ، خو کله چې مولوی خبر شو ډير ژر يې ځان په ګولی وويشت او مړ شو. يوبل هندی چې کلونه کلونه يې د مشروطه غوښتنې او تجدد په نوم په افغانستان کې ژوند وکړ او آن دا چې څو کاله د افغانستان د لومړيو مشروطه غوښتونکو په ډله کې بندي هم و او د افغانستان له خپلواکی څخه وروسته خوشې شو او يوځل بيا د معارف په دنده کی. وګومارل شو، خو همدا چې په افغانستان کې مترقی او ځوان دولت د يو ارتجاعي اړ-دوړ له امله له منځه ولاړ نو دغه سړي (مولوی نجف علی خان) ددې وخت ومونداو ايله دا فرصت ورته برابر شو چې هغه خپل آخري نيت څرګند کړي او ډيرو مضرو تبليغاتو يې پيل وکړ. دا هغه مهال و چې د بهرنيو سرچينو له خوا ډيری زياتې پيسې لګول کيدی چی د افغانستان په آزادو سرحداتو کې تبليغات او پرو پاګندې وشي او د افغانستان نوی غورځنګ بد نام کړي او د افغانستان د بيا رغونې. تجدد. معارف او ترقی په ضد عمل وکړي او همدا مهال په زرګونه جعلی مستهجن (ډير بد) عکسونه د شاه امان الله خان او ملکې ثريا په برخه کی چاپ شول او د تجدد او ترقی د بد نامولو لپاره خپاره شول او دغه جعلی عکسونه يې د تجدد او ترقی سمبول وګرځول ترڅو خلک او عوام د هر تحول، تجدد،

Scanned by CamScanner

ترقی او پرمتګ په ضد وپاروي او د نوی کیدو او تجدد په وړاندی بې کرکه را وپاروي. مولوی تحصیلات لرل او د دري ژبی شاعر و، خپل زهر جن مطالب یې په دوو رسالو (پند نامه او تبریک نامه) کی په لاهور کې چاپ کړل او افغانستان کی یې خپاره کړل. مولوی له خلکو څخه د موخه یو شمیر خلک ستایلی او نور بې رټلي وو، خو د هغه اصلي موخه د افغانستان د ذهن کی د زهرو شیندل و، د بیلګې په توګه نوموړی د خپلی مدحیه رسالی (پند نامه) لیکلی:

من محمد ګل وزیر داخله، دانم به نام
لیک میګویم دعا درحق آن نیکو سیر
مظهر فیض محمد(۱) نور چشم ارجمند
کز زمان طفلیش میدانم این نیکو پسر
هم عزیز من که موسوم است با الله نواز
پیکر صدق و صفا در حق شاه تا جور
هم ریس فابریکات سید نیکو شمیم
اسمش عبدالله و عرفش شاجی شد مشتهر

خو هغه د تبریک نامی په هجویه برخه کی په نهم مخ کی لیکي:

گر مخنث را بپوشانی سلاح کارزار
روز میدان کی تواند با عدو آویختن
با لباس فیشن افواج امان الله چی کرد؟
کس نشد زیشان جلوګیر از بغاوت رهزن

---

دختران بودند در عهد امان شوخ و شنګ
هر طرف خیزک زنان چون آهوی دشت تتار
ساقهای شان نمایان بود مابین جراب
پیرس و لندن بوضع فیشن ایشان نثار
دست شسته از حیا و ننګ و ناموس و شرف!
ملت افغان ز شوخیهای ایشان شرمسار
از جرایم تفرنح اکثریت ګشته مریض
در نواح شهر کابل بد هوا بس ناګوار
خیلی از دوشیزګان رخت سفر بربست و شد(۲)

---

۱– سردار فیض محمد زکریا د افغانستان د معارف او د بهرنیو چارو وزیر.
۲– د زده کړو لپاره بیرته تللی.

Scanned by CamScanner

عـزم یـورپ کـرده بـر کالسـکه آهـن سـوار
هر مسلمانان کـه دیـد ایـن منتظر عبرت فـروز
شـد بـدین بیدانشـی شـاه افغانسـتان اشـکبار
زیـر دنـدان کـرده اسـت انگشـت تأسـف آه کـرد
بوالعجـب از غیـرت اسـلام شـا کوهسـار
هنـدوان شـادان و خنـدان هرطـرف نعـره زنـان
مصـلح ملـت پدیـد آمـد جـوانی تاجـدار
نـو جوانـان را بـود ورد زبـان لفـظ وطـن
ز آنکه با اسلام و دین چندان نمیدارند کار(!)
شـاه امـان الله غـازی خـواب غلفـت رفتـه بـود
بیخبـر از گـردش ایـام در لیـل و نهـار
از پـی تـدبیر شـان حکـام صـادر گشـته بـو
در ازل از حضـرت سـمبال خـدای کردگـار[1]
جنـت الفـردوس آمـد زیـر پـای مـادران
عـاق مـادر[2] بـا مصـائب دایمـاً گـردد دوچـار
صـحبت سـامی و طـرزی[3] آخـرش از راه کشـید
راه گـم کـرد و بسـوی راه کـی شـد رهسـپار
ملحـدان و دهریـون چـون مجلـس آرایـي کنـد(!)
(سـویت) برپـا کننـد ایـن منکـران کردگـار[4]

مدارنګه مولوی محمد حسین خان هند چې څه نا څه لس کاله په کابل کی له مشروطه غوښتونکو سره بندي پاتي شو. د امان الله خان له پاچا کېدو وروسته له جیل څخه خوشي او د کابل د حبیبیې د لیسې مدیر وګومارل شو. آن دا چې نوموړی یو خل د افغانستان د دولت له لوری له صلاح الدین سلجوقی (چې وروسته بیا یو مهال د مطبوعاتو مستقل ریس شو) سره مسکو ته هم ولیږل شو. دغه سړي د کابل له روښاندو سره راشه درشه پیدا کړه او خان یې یو رادیکال معرفی کړ، خو کله چې هند ته ستون شو او اماني دولت سقوط وکړ او پرخای یې یو ارتجاعی او وروست حکومت راغی، هغه لومړني سړي چې په هندکې د اماني مترقی او انقلابي دولت په ضد کتاب وکیښ همدغه مولوی محمد حسین خان هندي و، البته باید په پام کې ونیول شي چې هغه مهال د هند دولت هیله درلوده چې د هند آزادي غوښتونکي په

[1]- د دغه مطلب استعمار دی.
[2]- مطلب یې امان الله خان دی.
[3]- دلته یې موخه د سراج الاخبار مدیر محمود طرزی دی چې وروسته بیا په اسلامبول کې وفات شو.
[4]- دلته یې موخه د افغانستان روڼاندي دي.

افغانستان کی ښه نوم ونه لري او د افغانستان د خلکو له مرستې او پاملرنې څخه بې برخې شي. دغه ډول هندیانو له خپلو یوشمیر ناوړه کارونو سره د هندوستان د ځوانو مبارزینو تولنیز ارزښت هم زیانمن کړ. دوی نه یواځې دا چې د افغانستان د ګټو په ضد. بلکې په خپله د هندوستان د ملی ګټو په ضد هم عمل وکړ د بیلګې په توګه وروسته د استقلال تر جګړې مولوی ظفر حسن خان مهاجر په کابل کې د هند د انقلابی جمعیت یو ـ ـ ی و. هغه د پکتیا ولایت ته واستول شو چې هلته لکه ډاکتر فقیر محمد خان بیطار په شان له افغانی سپهسالار سره خدمت وکړي

ظفر حسن خان خپل ګوندي استاد په کابل کې خپل مرستیال مولوی الله نواز ته وسپارل خو وروسته څرګنده شوه چې دغه اسناد انګریزانو ته په لاس ورغلي دي. سره له دې چې وروسته وویل شول چې دغه اسناد د سقوی اړ-دوړ په ورځو کې په کابل کې له منځه ولاړل. خو مولوی عبیدالله سندي د کابل په یاد دښتونو لیکلی چې مونږ له یوشمیر قراینو څخه پوه شولو چې دغه اسناد د انګریزانو لاس ته ورغلي دي[1]

همدرانګه د کابل هندیانو د ترکیې له هیواد سره د اړیکو په خاطر او د ګوند پراخولو په موخه او په اسلامي هیوادوکی یې د نمایندګیو د جوړولو لپاره یوه پراخه نقشه جوړه کړه او دغه سیاسی رپوټونه یې مولوي عبیدالله سندي د ژیړو ورېښمو په واسطه په کېږه کاغذ باندې لیکل او د مولوی منصور له یوه جلا لیک سره یې په یوه ځانګړې باکټ کې د سند حیدرآباد د اچاریه کرپلانی ورور شیخ عبدالرحیم ته د شیخ عبدالحق مهاجر په لاس ورولیږل ترڅو شیخ عبدالرحیم هغه په خپله یاد کوم باوري سړي په واسطه عربستان کی شیخ الهند محمودالحسن ته ورسوي. خو دغه پاکټ او لیکونه د شیخ عبدالرحیم پرځای خان بهادر حق نوازخان ملتاني ته ورکړل شول او هغه مخامخ سر میکل ادوایر ته وسپارل[2]. د نواز کورنۍ اوږده کلونه انګریزانو ته چوپړ کړی و. کله چې انګریزان د افغانستان د ختیزو ولایتونو د نیولو په لټه کې شول. په ۱۸۷۹ کی یې لومړی یو استازی د میا رحیم شاه هندوستانی په نوم چترال ته واستاو. معمولاً به دغه سړي د تقوا چېن او د مذهبی خیری او بنیی په لرلو سره ګرځید. چې همدغه نقاب لاندې یې وکولای شول چې په چترال کی خلک ځانته را واړاوي او په خپلو تخریبي فعالیتونوکی بریالی اوسي. په دې توګه د چترال د مهتر کورنۍ کی یې د نفاق اوربل کړ او د امان الملک له زهر وژنې وروسته د حکمران خبره دې برید ته ورسیدله چې د انګریزانو سرتیري چترال ته وخغلل او د اطاعت کړی یې د لاسپوځي مهتر په غوږ کې واچوله. محمد نوازخان د انګریزانو استازي یعنی ملتانی دفعه دار (محمد نوازخان) په چترال کی انګریز ته هر ډول چوپړ کی هلې-ځلې وکړې او بیا په ده پسی دده زوی رب نوازخان د انګریزانو په استازیتوب چترال ته واستول شو. چې لکه د خپل پلار په شان یې چوپړ وکړ او د انګریز په ګټه یې جګړوکی برخه واخیستته. نو ددغو چوپړونو په بدل کی انګریزانو ورته

---

[1]- د هند د موقت حکومت کورنیو چارو د وزیر مولوی عبیدالله سندي یادښتونه په (کابل مین سات) رساله کې (۱۹۱۵- ۱۹۲۲م.) د چاپ، ۱۹۵۵م. کال. ۸٦- ۸۷ مخونه.

[2]- کابل مین سات سال ۷۵- ۷٦ مخونه.

اعزازي لقب او يو څه معاش مقرر کړ او په ملتان کې يې کرنيزې ځمکې هم ورکړې.
په هر حال: د حق نواز د دغه عمل په پايله کې شيخ الهند محمود الحسن له خپلو ملګرو هر يو عزيز ګل کاکا خيل، حسين احمد مدني، وحيد احمد او حکيم نصرت حسين سره يوځای په ۱۹۱۲ کې ونيول شول او د جګړې د مجرمينو په توګه مالتا کې بنديان شول. د «اسير مالتا» کتاب همدا وخت د حسين احمد مدني په قلم وليکل شو. د هند نور آزادي غوښتونکي هم د انګريزانو تر فشار لاندې وو. آن دا چې انګريزانو له افغانستان څخه غوښتل چې هندي مهاجر ورته وسپارل شي. خو امير حبيب الله خان ونه منله، يعنې امير هغوی د انګليس حکومت ته ونه سپارل. خو بهر نورو ملکونو ته د تګ په برخه کې يې ځېل واک ته پرېښودل او هغه شميرې چې کابل کې پاتې شول. تر څارنې لاندې ونيول شول. له دې ډلې څخه کوم کسان چې افغاني آزاد سرحد ته ولاړل يو يې مولوی محمد ابراهيم او بل يې مولوي محمد علی قصوري د حبيبيې د ښوونځي ښوونکي وو. افغاني نامتو مجاهد حاجي ترنګزايي هغوی ځانته ومنل. خو محمد علی له لارې کوږ شو او د خاين صاحبزاده عبدالقيوم په لاس انګريزانو ته وسپارل شو او هغه ټول هغه څه انګريزانو ته وويل چې ليدلي يې وو.
صاحبزاده عبدالقيوم په صوبه سرحد کې نامتو خاين و. خو مولوی محمد ابراهيم د روسيې په نيت روان شو. خو د لارې په ترڅ کې په پټه توګه مړ شو. د شيخ الهند محمد الحسن له مړينې وروسته امير امان الله خان په کابل کې د وير يوه غونډه جوړه او ويې ويل هغه څه چې شيخ الهند پيل کړي و، زه به يې پای ته ورسوم.
په همدغه (۱۹۱۲م.) کال کې په کابل کې د هند د موقت حکومت ريس مهندر پرتاب د روسيې امپراتور دوهم نيکولای ته يو ليک وليکه چې له هغه څخه د هندوستان د خپلواکه کيدو لپاره مرسته وغوارې. دغه ليک د سرو زرو په يوه دړه ليکل شوی و. خو دغه ليک هم لکه د ورپېښمين ليک په شان د روسانو پرځای د انګريزانو لاس ته ورغی او انځور يې په هند کې وليدل شو. «پښتون» مجلې په ۱۹۴۷ کې په پښورکې په دې برخه کې پوره شرح خپره کړه. دا يوازې نه. بلکې يو شمير هندی مهاجرو لکه شهنواز خان ملتاني او نورو بيرته مخ هندوستان ته واړاو او په کراره ژوند يې غوره کړ. خو ريښتياني آزادي غوښتونکي د انګريزانو په جيل کې ولويدل. ډاکتر شجاع الله، عبدالباري او عبدالقادر مهاجر، چې کله د ايران له لارې ترکيې ته تلل په لاره کې د انګريزانو لاس ته ورغلل. عبدالباري ټول ګوندي رازونه وويل او خوشې شو. عبدالقادر چې يو صادق سړی و په غمجن ډول مړ شو. په وزيرستان کې چې کله د هندي مجاهدينو اتيا کسيزه ډله په جهاد بوخته وه. عبدالرشيد مهاجر، نعمت الله مهاجر ځکه وواژه چې هغه له انګريزانو سره اړيکې درلودې. خو نورو بيا دی خپله د هغه په قصاص کې مړ کړ. همدارنګه په چمرکنډ کې مولوی محمد بشير مجاهد او د المجاهد د جريدې خپرونکی چې د هندي مهاجرينو لارښوونه وربه غاړه وه د خپل يوه خاين ملګري (مولوی فضل الهی مهاجر) په لاس ووژل شو او ګټه يې د هندوستان د آزادی دښمنانو ته ورسيده البته د يوشمير هنديانو مسلمانانو دغه ډول منفي چلند د روباندو په اذهانو بې اغيزې نه و. بلکې د هند او افغانستان په هکله يې بې باورۍ پيدا کوله. په ترکيه

کې د هند د آزاي د مبارزې د یوه مدعي به هکله یوه دا ډول پښه وشوه. هغه داسې وه چې یوتن تحصیل یافته سړی چې (مصطفی صغیر) نومید. خان (د هند د خلافت د کمیټی) استازی وښود او انقرې ته ولاړ، کله چې د ترکیې ملت په کلکه ملاتړلې وه چې له لاسه وتلی ترکیه بیرته را ژوندی کړي، نو ده وویل چې ډیر ژر به څو میلیونه پونډه اعانه د هند د خلافت د کمیټی له لوري ترکانو ته ورکړل شي. خو ترکان ډیرژر وپوهیدل چې دغه سړی شکمن دی، نو د هغه لیکونه یې تول و پلټل او له څارنې وروسته ثابته شوه چې هغه په اسلامبول کې د انګریزانو له جاسوسي شبکې سره اړیکې لري. یو جرمنی (فون) چې د (مصطفی کمال) په نوم یې یو کتاب لیکلی دی. په دی هکله په زړه پوری نوشته کی لیکلي مصطفی صغیر څخه یې په ډیر مهارت حقایق ترلاسه کړل هغه یې په یوه غجیبه بڼه استنطاق او معترف کړ چې هغه د بنارس د یوی بډایې کورنۍ غړی او د انګریزانو په لګښت جاسوسي ته روزل شوی دی.

(رودیار کپلنګ دغه طریقه په خپل نامتو رومان (کم) کی تشریح کړی ده). مصطفی صغیر په کوچنیوالی (لس کلنی) کی له هند څخه لندن ته بیول شوی. د (جنتلمینی) ښوونه او روزنه ورکړل شوی او اکسفورډ یې لوستی او انګلستان ته یې په قرآن او وجدان قسم یاد کړی. وروسته له هغه بیا نړۍ ته په سفر ووت ددوکتورا سند یې د آلمان له (هایدل برک) څخه ترلاسه کړ. هغه هلته هندي محصلین په کلکه په پټه څارل. وروسته ورته په افغانستان او مصر کې پټ ماموریتونه وسپارل شول او په ایران کې یې د انګریز قونسل په توګه دنده ترسره کړه. په لومړۍ نړیواله جګړه کې په سویس کې په نړیوال جاسوسي مرکزکې بوخت و او له جګړې څخه وروسته د خلافت د کمیټی په استازیتوب ترکیې ته واستول شو. د خلافت د کمیټی د استازی نوم ددې لامل شو چې په پیل کې ترکان ډیر باور وربانديې وکړي، په تیره بیا کله چې هغه د انګریزی جاسوس او د خاینو ترکانو یو لست (دا هم نه ده څرګنده چې دده دغه اطلاع څومره سمه وه) د مصطفی پاشا رژیم ته ورکړ. د سلطان وحیدالدین او د ترکییی د صُدراعظم فرید د زوم نوم هم په دی فهرست کی و. مصطفی صغیر اعتراف وکړ چې دده دنده دا وه چې له انقلابي روسیې سره د ترکانو اړیکې کشف کړي او هم یې غوښتل چې په مصطفی کمال ناوړه برید و کړي او د خپل دغو چوپړنو په بدل کې سل زره پونډه جایزه ترلاسه کړې. قاضي له ده څخه ددې لامل وپوښت چې ولی یې دا ډول یوه دنده غوره کړی ده؟ هغه وویل چې دا ځکه چې ما یو څل پخوا د افغانستان د پاچا (موخه یې امرحبیب الله خان و) په وژلو کی کامیابي ترلاسه کړې ده. ده دا خبره ځکه کوله چې امیرحبیب الله خان اړو چې د لومړۍ نړیوالې جګړی له پای ته رسیدلو څخه وروسته، د انګلیس حکومت ته په رسمي توګه یو یادښت وسپاري او د هغه په ترڅ کې ورڅخه وغواړی چې (د سولی کنفرانس) دې د افغانستان خپلواکي وپیژني (امیر په همدې شرط سره د افغانستان بیطرفی اعلان کړی وه). د امیرحبیب الله خان دغه یادښت د ۱۹۱۹کال د فبروری په لومړیو کې د انګلیس حکومت ته ورکړ شو، خو د همدې میاشتی په پای کی امیر په جلال آباد کی ووژل شو، نوځکه یې داسې ښودله چې ګواکې د انګلیس سیاست د امیر د وژل کیدو لامل شو، ترڅو کوم بل څوک په افغانستان کی د خپلواکۍ دعوا ونه کړی. انګریزان عادت لري چې ځینې وخت هغه مهم کارونه چې نورو کړی وي، په خپل نامه کړي او ددې سر چپه بد او ناکام کارونه

Scanned by CamScanner

بې دوی کړی هغه په بل پورې کړي

په هر حال؛ د افغانستان تاریخ د مصطفی صغیر په لاس د امیرحبیب الله خان وژنه ردوي. دا ځکه چې د امیرحبیب الله خان وژنه د هیواد له کورني سیاست څخه رېښه لرله او آن دا چې په کابل او جلال آباد کې د پاچا وژونکی شجاع الدوله خان غوربندي (د پاچا د حضور فراش باشي) بلل شوی و.

په هر صورت؛ صغیر په انقره کې زندی شو. خو د هغه د غوښتنې له مخې د هغه د کورنۍ نوم ونه ښودل نو صغیر ددې پرځای چې د دار (پانسي) په دړه ودرېږي، کیناست. جلا د هغه دغې تیروتنې ته ځیر کړ صغیر پاڅېد او په ادب سره یې وویل: وبښئ. دا لومړی ځل دی چې زه په خپله عمر کې داسې ځای ګورم(1) هغه یو بل وصیت هم کړی و چې د هغه تش بکس دې په اسلامبول کې د انګلیس نماینده ګۍ ته ورکړل شي

ترکانو له هغه څخه یوه لیکنه وموندله. په هغې کې یې لیکلي و چې زه انګریزانو ته د چوپړ په لاره کې په داسې یوه ښار کې وژل کېږم. چې له ختیو ډک دی. د هند د هغه وخت جرایدو هم د صغیر پېښه خپره کړه. کله چې مصطفی کمال دده د وژلو په اړه د صغیر له اعتراف او سل زره پونډه جایزې څخه خبر شو. په خپل سر یې ګوته کېښوده او وېې ویل. زه نه پوهیدم چې زما سر دومره بیه لري. فون لیکي: که چیرې د مصطفی کمال د وژلو دغه طرح واقعیت هم ولري، نو دا د انګلیسانو د حکومت طرح نه ده. بلکې دا د انګلستان د جاسوسي اداري نقشه ده.

## خو د افغانستان په اړه د انګلیسانو ادبي او تبلیغاتي چلند

د نویو پېړیو تر پیل پورې د لرې آسیا د هیوادونو او اروپایي هیوادونو ترمنځ پیژندنه یا نه وه یا ډېر لږ او نیمګړې وه، خو کله چې مخ په ختیځ د لویدیځو والو استعماري ګامونه را اوچت شول او سوداګریزې اړیکې پیل شوې، دغه پیژندنه زیاته شوه. استعماري دولتونه هرځای ته چې رسیدل، د هغو ځایو په هکله به یې کتابونه او آثار لیکل او په اروپا کې یې خپرول. البته دغو آثارو او کتابونو تر ډېره د استعمار او ښکیلاکګرو په ګټو پورې تړاو درلود، نو ځکه یې حقایقو او واقعیتونو ته ډېره پاملرنه نه کوله. انګریزان د اروپا له هغو خلکو څخه دي چې د نورو اروپائیانو په پرتله د هندوستان له لارې افغانستان سره ژر آشنا شول، همدوی د نورې اروپا په پرتله د افغانستان په هکله ډېرې لیکنې کړې دي. نورو هیوادونو هم ددوی د همدغو اخځونو له مخې افغانستان پیژندلی دی. اوس هم د ګڼ شمیر لیکوالو او مورخینو مرجع او اخځ همدا انګریزي آثار دي. حال دا چې د افغانستان په هکله د انګلستان دغه آثار، د افغانستان په وړاندې د هغوی د سیاسي غرضونو پر بنسټ دي. دا ځکه چې دوی همدغه د اتلسمې پیړۍ له پیل راهیسې افغانستان د هندوستان د نیولو پرسر خپل بله. سیال او رقیب ګاڼه او په نولسمه پیړۍ کې یې څو ځله له افغانستان سره جګړه وکړه، نو ځکه دوی د افغانستان او د

1- د «غازي مصطفی کمال» کتاب، د داګو برت فوون میکش (Dagobert von mikusch) تألیف د لایپزیک چاپ، ۱۹۲۹م. کال.

Scanned by CamScanner

افغانستان د خلکو په هکله په لیکنه کې (په تیره بیا د دغه هیواد د سیاسی تاریخ په هکله، د سیاسی غرضونو او خپلو عاطفی احساساتو تابع دي

د افغانستان په اړه دغه سیاسی لیکنې زیاتره په لاندی ټکیو را څرخي: (له دې امله چې ډیر پخوا د افغانستان په نوم کوم هیواد نه و. نو طبعاً کوم ملت هم خارجی وجود نه درلود. نو ځکه دغه هیواد نیم د ایران او نیم د هندوستان برخه ده. که چیری په اتلسمه پیړۍ کی کوم دولت هم د افغانستان په نوم جوړ شوی وي دا هسې یوه تصادفی پیښه ده، نه یو تاریخی واقعیت.

دغه دولت د (افغان) په نوم له یوه قوم څخه جوړ شوی چې د غلا، سرې وژنې. غداري، دروغو او ټګی یو مرکب دی او اصلاً د نړۍ د ملتونو په تاریخ کی له څو سوه کاله څخه زیات عمر نه لري او که اوس هم په همدې بی اصالتی سره په نړۍ کی د افغانستان په نوم کوم دولت وي. نو هغه به...

Scanned by CamScanner

# دریم

# په افغانستان کې د روس د دولت سیاست

**روسیه:**

روسان اصلاً د اندو اروپایي ګروپ پورې مربوط. د سلاو له نژاد څخه دي. چې د التایي اورال د کورنۍ له نژادونو (منګولیایي. ترك او فنلدیانو) سره ګډ شوي دي او وروسته بیا د اسکندنیاوي له نارګن سره ګډ شوي دي د روسیې د جنوبي ستیپ لومړنی او سېدونکی (سات) نومېدل. چې له میلاد څخه اووه پېړۍ مخکې دغې سیمې ته راغلي وو. په دغه پیر کې ترکان په التای او منګولیا کې او د یونان کلوني ګانې د تور سمندرګي په شمالي غاړو کې وو. له میلاد څخه مخکې له څلورمې پېړۍ څخه تر دوهمې پېړۍ پورې (ساراتي) وګړي او بیا له هغې ډلې څخه (آلان) خلك د تور سمندرګي په جنوبي غاړو کې د ختیز سلاو قبایل را د بره شول. چې په دوی کې یوه یې د (روحستي از) قبیله وه. چې د روس کلمه له همدې څخه اخیستل شوې ده. چې د لومړي خل لپاره د میلادي شپږمې پېړۍ په آثارو کې تر سترګو کېږي. سلاوي (انت) وګړو. په دوهمه میلادي پېړۍ کې په جنوبي روسیه کې خپل ځانګړی تمدن او دولت درلود. دوی په کرنه او مالدارۍ باندې بوخت وو. چې د دوی نومونه د څلورمې میلادي پېړۍ په آثارو کې تر سترګو کېږي. دغو سلاویانو د طبیعت د ځواکونو نمانځنه کوله. په دریمه پېړۍ کې جرمني ګوټ وګړو د روسیې په جنوب برید وکړ او هغه ځایونه یې ونیول د هغه ځای سلاو قبایل یې ځانته تابع وګرځول. په څلورمه پېړۍ کې له ختیځ څخه هون وګړي راغلل او د ګوت وګړو واك یې پای ته ورساوه او د هنګري تر آتیلا تا پورې ورسېدل. خو له هغوی څخه وروسته هون وګړي د ننني بلغاریا د ازوف پورې په شا ولاړل. په جنوبي روسیه کې د بېلا بېلو قبایلو تر منځ د اخ و ډب په ترځ کې فنلدي قبایل د اورال په دوو خو ډ.. کې په ښکار او کب نیولو بوخت وو. په شپږمه پېړۍ کې (اوار) قبایلو په سلاویانو باندې برید وکړ او تر اوومې پېړۍ پورې سلاویان د دریاپاتیك تر سیند پورې ورسېدل. د همدغې شپږمې پېړۍ په ترځ کې د التایي ترکانو بریدونه وکړل او د دون، ولګا او شمالي قفقاز په شا و خوا کې مېشت شول او وروسته یې بیا د خزر دولت جوړ کړ. د خزر دولت د خزر له سمندرګي څخه تر تور سمندرګي پورې واکمن و. چې د دولت په سر کې خاقان او د پوځ په سر کې بیګ د چارو واك درلود. دوی کر.ګر او مالدار و او سوداګري یې هم کوله. په اتمه پېړۍ کې عرب ځواکونو د خزر ځواکونو ته ماتې ورکړه. خو مخکې تر دې په اومه پېړۍ کې عرب ځواکونو د خزر ځواکونو ته ماتې ورکړه، خو مخکې ... په اوومه پېړۍ کې د سکاندنیاوي نارزمن وګړي د یارسلاو او روستوف سیمو ته راغلي وو او ... پېړۍ ... دون او شمالي قفقاز ته راغلي وو او ددې ځای له نورو خلکو

سره ګډ شوي وو او د روس نوم وربانديږ کېښودل شوی و. په نهمه پېړۍ کې د روسيې سویلني حاکم له خزر څواکونو سره جګړې وکړې او خان يې د روس د خاقان دریغ ته ورساوه. په همدې پېړۍ کې نور نارزمن وګړي هم روسيې ته راغلل او په کيف کې يې يو دولت جوړ کړ.

په نهمه اولسمه پېړۍ کې يو شمېر روسانو له بيزانتين سره د سودا ګريزو اړيکو د لرلو لامله عيسوي دين ومانه. د کيف ملکه (اولګا) په خپله د بيزانس دربار ته ورغله او عيسوي شوه. د همدغي ملکې زوی څواکونه (سيواستو سلاو) د خزر دولت ته ماتې ورکړه. وروسته تر هغه څخه دده د زامنو تر منځ اخ و ډب شروع شو، چې په پای کې يې ولاديمير په ۹۸۰ کې واك ترلاسه کړ. هغه عيسوي دين ومانه او د روسيې خلکو ته يې د پاکوالي غسل ورکړ. له همدې لامله هغه ته (سپېڅلی ولاديمير) ويل کېده. سواد او ليك لوست له عيسويت سره يو ځای په روسيه کې را پيدا شول. په ۱۰۱۹ کې د ولاديمير زوی (يارو سلاو) پاچا شو او ټوله روسيه يې تر خپل واك لاندې راوسته او يو شمېر قوانين يې جوړ او ماشومانو ته يې ښوونځي جوړ کړل. ددغه سړي له مړينې وروسته کورنۍ جګړې پيل شوې. روسيه په ۷۴ شهزاده نشينو کوچنيو ايالاتونو وويشل شوه روسان له دولسمې پېړۍ څخه په دريو برخو ووېشل شول: ستره روسيه، سپينه روسيه او اوکراين. په دغه دوره کې د روسيې خلك او ټولنه په دوو برخو ويشل شوي وه آزاد او مرييان. يعنې بنديان او بېوزله وګړي، چې ځانونه يې د مريي په توګه پلورل درېيمه ډله هغه وګړي وو، چې د پور پيسو په ورانديږ يې کار کاوه او د دوو لومړنيو طبقو تر منځ وو. د روسيې قبيلوي رژيم د لسمې او دولسمې پېړۍ تر منځ وپاشل شو. کله چې روسيه عيسوي شوه د لومړي ځل لپاره ديني کتابونه پکې خپاره شول. چې ځينې وخت په روسي ژبه هم ژباړل کېدل. د روسيې لومړنی تاريخ يوه کشيش د يوولسمې پېړۍ په وروستيو کې وليك. د مسکو نوم د لومړي ځل لپاره په تاريخ کې په دولسمه پېړۍ کې تر سترګو کېږي. په ديارلسمه پېړۍ کې مغلو په روسيه باندې بريد وکړ (۱۲۲۳). دغه بريد يو ځل بيا په ۱۲۳۷ کې تکرار شو او کيف ونيول شول. له دې وروسته تر څوارلسمې پېړۍ پورې په روسي شهزاده ګانو باندې مغلو واك وموند. دا مهال مسکو د روسيې د نورو سيمو په پرتله څواکمن پاتې و او تر څنګ يې په ليتوانيا کې يو بل څواکمن مرکز رامنځته شو، چې تر تور سمندرګي پورې پراخ و، يعنې روسيه په دوو (ختيز او لويديز) دولتونو ووېشل شوه. (غربي دولت او د مسکو سلطنت د پولنديانو تر دومينون او ليتوانيا تر واك لاندې راغلل)

دغه ويش تر اتلسمې پېړۍ پورې په خپل حال و، په همدغه مهال کې په روسيه کې لومړنۍ عيسوي کليسا جوړه شوه. د کريميا د ټاپو وزمې ايټالوي جينوايي او سپدونکو په واسطه له لويديځې اروپا سره ارتباط ټينګ او د تمدن اثار يې ترلاسه کړل. د بېلګې په توګه د لومړي ځل لپاره يې د سپينو او سرو زرو کونډې ووهلې او مسکوکات يې رامنځته کړل. خو مخکې له هغه يې د (خز) په پوستکي سوداګريزې راکړې ورکړې ترسره کولې. په څوارلسمه پېړۍ کې د روسانو په پوځ کې توپ وکارول شو. مسکو د قبچاق مغلو تر ضعيف کېدو وروسته (د اردوی مطلا له خوړ وروسته) خپلواك او په پنځلسمه پېړۍ کې روسيه د مغلو له واك څخه په بشپړ ډول خپلواکه شوه. د قبچاق پاچا سيد احمد

Scanned by CamScanner

مسکو له خوا کمن شهزاده دریېم ایوان سره له جګړې وروسته قبچاق ته د بېرته راستنیدو په لاره چې د ناتاریانو په لاس ووژل شو. په دې توګه د روسیې دوو پېړیو اسارت پای ته ورسېد. دریېم ایوان د کې د شمالي روسیې تولې سیمې تر خپل واک لاندې راوستې (ایوان مخوف)، د دغه سړي لمسی و. چې په شپاړسمه پېړۍ (۱۵۴۷) کې په مسکو کې په تخت کښیناست او د تزاري روسیې د سلطنت بنسټ یې کېښود. په ۱۵۵۲ کې قازان په ۱۵۵۶ کې استراخان او په ۱۵۸۴ کې سایبریا مسکو سره ونښلول شول. د مسکو واکمن د سپېڅلي ولادیمیر له اولادې څخه وو. د مسکو او لیتوانیا تر منځ څو ځله جګړې وشوې. لیتوانیا په ۱۵۲۹ کې له پولند سره یو ځای شوې وه. د ایوان مخوف پر مهال یو شمېر سمونونه او ریفورمونه ترسره شول. چې د پخواني اریستوکراسي ګټې یې زیانمنې او نوي ځمکوال رامنځته شول. بزګر هم د ځمکې یوه برخه وګرځېد. لیتواني روسیه کې د کتابونو چاپ په ۱۵۲۵ کې پیل شوی و او د شپاړسمې پېړۍ تر پای پورې په لویدیځه روسیه کې څه نا څه لس چاپ خونې وې. ایوان مخوف په ۱۵۹۸ کې مړ شو او بوریس کدنوف تزار (زار) شو. خو ډېر ژر د پولند په مرسته د څلورم ایوان د زوی په نوم یو بل تن د هغه په ځای کښیناست. دا مهال بزګرانو او مریيانو دیوه فراري غلام (بلوتنیکف) تر مشرۍ لاندې د بډایو او شتمنو په وړاندې پاڅون وکړ. زار او بلوتنیکف دواړه ووژل شول او په روسیه کې کورنۍ جګړې اور واخیست. له دې څخه په ګټه اخیستو پولند برې ومونده او آن مسکو یې ونیو. دا مهال د یوه سوداګر (مینین) په مرسته یو لښکر جوړ او د شهزاده پوژارسکي او د قزاقانو په مرسته پولند ته ماتې ورکړل شوه. په اوولسمه پېړۍ (۱۷۱۲) کې د روسیې د مشرانو یوه جرګه جوړه او یو پخواني اشراف میخائیل رومانوف د روسیې زار (تزار) شو. په دې سره د رومانیانو لړۍ پیل شوه. نوی دولت، چې د منځنۍ طبقې په مرسته جوړ شو، له پخوانیو اشرافو سره یې دښمني پرېښوده او د خلکو پاڅون یې وتکاوه. په ۱۷۴۹ کې سرفدم (سرواژ) رژیم پیاوړی شو او د بزګرانو آزادي ورڅخه واخیستل شوه. بزګرانو په تېښته پیل وکړ. د دون د سیمې د قزاقانو سردار (ستیفن رازي) د قزاقانو، بزګرانو او نا روسي قبایلو په مرسته په ۱۷۷۰ کې پاڅون وکړ او د مسکو واک لاندې سیمې یې ونیولې. خو ناکام او بیا اعدام شو. د اولسمې پېړۍ په ترځ کې بهرنیانو د روسیې په صنعت کې پانګه واچوله. پولند د لیتواني روسیې په برخه کې ډېره اغېزه درلوده او اوکراین یې نیولی و. د اوکراین د دنیپر د سیند د شا رخوا قزاقان په ۱۷۴۸ کې د بوګدان خملنتسکي په مشرتوب د پولند په ضد پاڅېدل، خو له ناکامۍ څخه وروسته یې روغه-جوړه وکړه. په ۱۷۵۴ کې اوکراین روسیې سره یو ځای شو او پولند له روسیې سره جګړه پیل کړه او لیتوانیا یې ونیوله. روسیې وکولای شول، چې د دنیپر او کیف کیڼې غاړې وساتي (۱۷۲۷). زار دولت په ۱۷۸۹ کې په ختیځ کې تر آمو سیند پورې وړاندې راغی او چین سره یې تړون لاسلیک کړ. د تزار الکسي له مړینې وروسته (۱۷۷۲)، د هغه زامن (لس کلن پتر او اولس کلن ایوان) دواړه تزاران شول. د دولت واک د ایوان مشرې خور صوفیا د پتر په نامه په خپل لاس کې واخیست او وروسته یې هڅه وکړه، چې پتر ووژني. پتر کودتا وکړه صوفیا یې بندي کړه او په ۱۷۸۹ کې یې د دولت اداره خپله تر لاسه کړه. همدا رنګه هغه په ۱۷۹۶م. کې د ازوف کلا له ترکیې څخه

Scanned by CamScanner

ونیوله په اتلسمه پېړۍ کې د پتر کبیر الوی پتر، پر مهال روسیه له نظامي، قضایي او نورو ټولنیزو چارو له پلوه د لویدیځې اروپا د هېوادونو په شان شوه. د پتر پر مهال روسیه د علومو او تخنیک په برخه کې عصري شوه. پتر آن د خلکو ږیرې په زور وخرېیلې او لویدیځ لباس او جامې یې دود کړې په ۱۶۹۸ کې د روسیې د سفارت یو هیئت د ترکیې په وړاندې د لوېدیځو هېوادونو د یوې اتحادیې د جوړولو په خاطر اروپا ته سفر وکړ. په خپله پتر په یوه بدله جامه کې د دغه هیئت یو غړی و. او په هالند کې د بېړۍ جوړولو د زده کولو په خاطر د بېړۍ جوړولو خدمت ته ورغی. پتر په ۱۷۰۳ کې د پتروګراد ښار جوړ کړ. خو په خلکو د دولت فشار زیات و. نو ځکه خلکو پاڅون وکړ. په ۱۷۰۷ کې د استراخان خلکو او د دون قزاقانو پاڅون وکړ. په ۱۷۰۹ کې د پتر خواکونو د سویډن خواکونو ته ماتې ورکړه او انګرما، استونیا او لاتویا یې روسیې پورې وتړل. د پتر زوی بهر ته وتښتید. خو پتر هغه بېرته راوست او محاکمه یې کړ او بیا یې د اعدام سزا ورته واوروله. خو هغه د ډېر کړاو له لامله مړ شوی و. پتر په ۱۷۱۷ کې خیوې باندې برید وکړ. خو د هغه د ډېر کړاو له لامله مړ شوی و. پتر په ۱۷۱۷ کې خیوې باندې برید وکړ. خو د هغه ځای د زړورو ساتونکو له لاسه په شا شو. پتر په ۱۷۲۳ کې د ایران خواکونو ته ماتې ورکړه او په پای کې په ۱۷۲۵ کې ومړ. لومړۍ کاترینه دده ښځه دده پر ځای کښېناسته او تر ۱۷۲۷ پورې یې پاچاهي وکړه. وروسته تر ۱۷۳۰ پورې دوهم پتر (د لومړي پتر لمسی) پاچا و. همدغه سړي په ایران کې له افغان شاه اشرف سره یو تړون لاسلیک کړ. په ۱۷۳۰ کې (ملکه این) د لومړي تیر وزیره او وروسته له هغې څخه په ۱۷۶۰ کې شپږم ایوان او بیا دریم پتر په ۱۷۶۲ کې زار شول دغه وروستی (دریم پتر) په روسي ژبه نه پوهېد. دوهمه کاترینه له ۱۷۶۵ څخه تر ۱۷۹۶ پورې په واک کې او همدا مهال روسان په الاسکا کې ځای پر ځای شول او په ۹۳-۱۷۹۵ کې یې دوه ځله پولند سره جګړه وکړه او بریالي شول. دا مهال د روسیې د جنوب ختیځ. د والګا او اورال بزګرانو د پوګاچف په مشرۍ پاڅون وکړ. خو پوګاچوف ناکام او بندي شو تر څو. چې په ۱۷۷۵ کې په مسکو کې اعدام شو

د روسیې اقتصادي او ټولنیزه ترقي او پرمختیا له اتلسمې پېړۍ څخه پیل کېږي روسیې په شپاړسمه او اوولسمه پېړۍ کې څه نا څه پینځلس میلیونه وګړي لرل. خو دغه شمېر په اتلسمه پېړۍ کې تر دېرش میلیونو پورې ورسېد. د نولسمې پېړۍ په پیل کې د وګړو شمېر څلوېښت میلیونو ته ورسېد او د همدغې پېړۍ په نیمایي کې اویا میلیونه شو. د لومړي پتر د مړینې پر مهال په روسیه کې دوه سوه څخه لږ کمې فابریکې وې. خو د نولسمې پېړۍ په پیل دغه شمېر دوه نیم زرو ته ورسېد. چې سل زره تنو کارګرانو پکې کار کاوه. د همدغې پېړۍ په نیمایي کې یې د فابریکو شمېر لس زرو ته او د کارګرانو شمېر یې پینځه سوه زرو تنو ته ورسېد. په ۱۸۱۳ کې په پتروګراو کې د روسیې د براس لومړنۍ بېړۍ جوړه شوه او په ۱۸۳۵ کې د وسپنې د پټلۍ جوړول پیل شول. په ۱۸۱۵ کې د مسکو او پتروګراد د تلګراف کرښه وغځول شوه. په اتلسمه پېړۍ کې د روسیې یوه منظمه اردو لرله. چې د لومړي پتر پر مهال یې ... دوه سوه زره تنه وو. د نولسمې پېړۍ په پیل کې د اردو شمېر اته سوه زره تنه شو. تر دې مهال پورې د روسیې دولت د نړۍ د خوا... سو هېوادونو په کتار کې ودرېد. په اتلسمه پېړۍ کې، چې

سروازي رژیم پیاوړی دریځ موندلی و. په ۱۷۸۲ کې په خصکه باندې شخصي (خصوصي) مالکیت په قانوني توګه رسمي شو. د پتر پر مهال کلیسا د دولت تر اغېزې لاندې راوسټل شوه او په ۱۷۹۷ کې د روس زار پال د کلیسا په سر کې راغی. د پتر پر مهال ښوونه او روزنه کې نوې والي راغی. چې په ۱۷۵۵ کې د مسکو پوهنتون جوړ شو. په ۱۸۰۰م کال په روسیه کې ۳۱۵ ښوونځي او سل زرد زده کوونکي وو. په ۱۸۵۲ کې د عامه ښوونې او روزنې وزارت جوړ شو. امپراتور پال په ۱۷۲۹ کې زار شو او په ۱۸۰۱ کې د خپل خوی د توطئې له کبله د خوب په کوټه کې ووژل شو. د لومړي الکساندر (۱۸۰۱ - ۱۸۲۵) پر مهال پټو ډلګیو پاڅونونه کول. دوی د سروازې رژیم له منځه وړل غوښتل او د اساسي قانون غوښتنه یې کوله. دغه پاڅون د دولت له لاسه وټکول شو او ښنځه تنه یې زندي او سل تنه یې بندیان شول. نیکولای له انګلیس. فرانسې او ترکیې سره تر جګړې او ماتې خوړلو څخه وروسته خان په زهرو مړ کړ. په قفقاز کې د روسیې هغه پرمختګ. چې د لومړي الکساندر په دوران کې پیل شوی و. بشپړ او په ۱۸۵۹ کې د قفقاز د آزادي ساتونکي شیخ شامل بندي کړل شو. د لومړي نیکولای پر مهال په ۳۹. ۱۸۴۰ کې د روسیې یو استعماري برید په خیوه باندې تر سره شو. په ۱۸۴۷ کې د روسیې دولت د سیحون د اوبو د توییدو برخې پورې ورسېد. په ۱۸۵۳ کې یې خوقند باندې برید وکړ او په ۱۸۲۵ کې یې تاشکند ونیو. په ۱۸۶۸ کې جنرال کافمان سمرقند ونیو او بخارا یې د روسیې د دولت تر سیوري لاندې راوسته. همدغه سړی د افغانستان له پاچا امیر شیرعلي خان سره د لیک په رابطه اړیکې وساتلې. په ۱۸۵۸ کې د روسیې دولت د چین پولو ته نږدې د آمو د سیند غاړې ونیولې او په ۱۸۲۰ کې یې د ساخالین نیمایي ټاپو او په ۱۸۷۵ کې یې نیمایي نور ونیو. روسیې په ۱۸۲۷ کې دیو میلیون او دوه سوه زرو ډالرو په بیه الاسکا په امریکې وپلورله. په ۱۸۷۳ کې یې خیوه په بشپړ ډول ونیوله. په ۱۸۷۰ کې د خوقند خلکو پاڅون وکړ. خو وټکول شول. په ۱۸۷۷ کې روسیې له ترکیې سره جګړه وکړه. چې د بسارابیا جنوب او نورې سیمې یې ونیولې. په ۱۸۸۱ کې تروریستو پاڅون کوونکو دوهم الکساندر مړ کړ. چې یو له دغو پاڅون کوونکو څخه د لینن ورور و. د دریېم الکساندر پر مهال (۱۸۸۱ - ۱۸۹۴) د ترکمانانو د کوک تیپې کلا ونیول شوه. په ۸۵- ۱۸۸۸ کې د عشق آباد او سمرقند د وسپنې پټلۍ وغځول شوه. په ۱۸۸۵ کې د افغان او روسي سرتېرو تر منځ د کشک د سیند تر غاړې یوه جګړه وشوه. د دوهم نیکولای پر مهال (۱۸۹۴ - ۱۹۱۷) مشروطیت اعلان او جرګه (دوما) جوړه شوه. د روس دولت د ۴ - ۱۹۰۵ جګړو په ترځ کې له جاپان څخه ماتې وخوړه او د همدې کال په ترځ کې د روسیې انقلاب وشو. په ۱۹۰۷ کې د روس دولت له انګلیس سره یو تړون لاسلیک کړ او افغانستان او ایران یې د خپلو نفوذ لاندې سیمو په څنګ کې په ورو ګلویزه توګه خپلو منځو کې ووېشل. افغانستان دغه تړون رد کړ. په ۱۹۱۱ کې د روسیې صدراعظم (استولیپین) ووژل شو. په ۱۹۱۴ کې د روسیې زاري دولت لومړۍ نړېوالې جګړې کې اخته شو او په ۱۹۱۷ کې د اکتوبر ستر انقلاب وشو او د لینن او کمونیست ګوند په لارښوونه سوسیالیستي انقلابي رژیم واکمن شو. له همدې ښېې څخه وروسته په نړۍ کې د روسیې تاریخ بدل شو

Scanned by CamScanner

# د روس د تزاري دولت د امپریالیزم پراختیا غوښتنه

د روس دولت له شپاړسمې پېړۍ څخه په پراختیا غوښتنې پیل وکړ. په ۱۵۵۲ کې یې قازان په ۱۵۵۲ کې یې استراخان، په ۱۵۸۴ کې یې سایبریا ونیول. په اوولسمه پېړۍ کې (په ۱۲۵۴م کال) یې د اوکراین سیمه زاري دولت سره وتړله.

په ۱۲۸۹م. کې روسیه په ختیځ کې تر آمو سیند پورې پر مخ ولاړه. په ۱۲۹۲ کې یې ازوف له ترکیې څخه ونیو. روس دولت په ۱۷۰۹ کې سویډن ته ماتې ورکړه او انګرما، استونیا او لاتویا یې روسیې پورې وتړلې. له دغې پېړۍ څخه وروسته د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې په اروپا او آسیا کې د روسي د زاري دولت پرمختګونه همداسې روان وو. په اروپا کې یې فنلد او پولند او په آسیا کې یې ایران او ترکستان د افغانستان تر پولو پورې د روس د دولت د استعماري پوځ تر پوندو لاندې کړل. روسیې د نولسمې پېړۍ په ترځ کې د بالکان په ټاپو وزمه کې د لوړ دریځ د ترلاسه کولو لپاره درې ځلې د ترکیې له دولت سره جګړه وکړه (۱۸۲۹-۲۴-۱۸۲۲، ۷۷-۱۸۷۸) د تزاري روس د دولت طبیعت (جوړښت) د توري، تاو تریخوالي او دوکې یوه ګډوله وه. د دغه دولت ښکېلاك د اعدام، زنځیر، تبعید، عسکر، ژاندرام، پولیس او زندان پر بنسټ ولاړ وو. د روس دولت د پوهنتون د جوړولو او د معارف د خپرولو په ځای په خپلو مستعمراتو کې د فحشا او شرابو په رواجولو پیل وکړ او د عیسوي مسیونرانو په واسطه یې د غیر مسیحي ملتونو په عیسوي کولو لاس پورې کړ. همدا رنګه د خپل واك لاندې سیمو د روسي کولو څخه یې سترګې نه پټولې. د روس د دولت مذهبي تعصب دومره زیات و، چې د قزاق او قرغزستان له نیولو وروسته یې اسلام د هغوی د دین په توګه په رسمیت ونه پېژاند، بلکې هغوی یې شاماني مذهبه اعلان کړل. د روس دولت د بېلابېلو دنیونو تر منځ د نفاق تخم وکاره او دا عقیده یې تبلیغ کوله، چې روس د ټولې نړۍ د هېوادونو بادار او د انسانانو بني نوع د تمدن رښتیني رامنځته کوونکي دي. دوی دا ښودله، چې د هستۍ په عالم کې خدای د نړۍ (لوی پلار) او د روس زار (کوچنی پلار) دی. دوی به هر ځای ته، چې رسېدل روسي ژبه به یې په محاکمو، ادارو او ښوونځیو کې د هغو د سیمه ییزې ژبې پر ځای دود کوله. له دې پرته دوی ختیځوال د روس په پرتله وحشي او ټیټ بلل دا ځکه، چې دوی خپل ځانونه د آسیا آسماني خاوندان بلل او په غرور یې ختیځ ته کتل آن دا، چې د ترکستان خلکو ته یې په ریل پټلۍ کې ځانګړې واګونونه وټاکل د روس دولت روحانیون د روڼ اندې په وړاندې د سوغاتونو او مډالونو په ورکولو سره لمسول، که چېرې د روس زاري دولت د ختیځ آزادو ولسونو سره ځینې نزاکتونه ساتل هغه د یو انسانیت، ترحم او اخلاقو له مخې نه، بلکې د خپلو نورو سیالو استعماري ځواکونو مثلاً انګلستان او نورو له لامله و، چې غوښتل یې په دې توګه د ختیځوالو پاملرنه ځانته واړوي، خو که چېرې دوی کوم هېواد نیو، نو بیا دغه نزاکت او ادب هم کوم مفهوم نه درلود او ځای به یې تاو تریخوالی، تحکم او سپکاوی ونیو.

د تزاري روس دغه چلند په ځانګړې توګه د یوه مستعمره ملت، مذهب یا هېواد په هکله نه و، بلکې د ټولو په وړاندې یو شان و. د بېلګې په توګه په اروپا کې پولند د دوی د ښکېلاك او نیواك له امله

Scanned by CamScanner

هغومره استونزې وګاللې لکه څومره، چې قفقاز مسلمانانو د زاري روس له لاسه وګاللې دا یواځې نه. بلکې د تزاري روس دولت په خپله خپل ولس او خلکو باندې هم زور زیاتی کاوه او هغوی سره یې جفا او جنایت کړی، او په میلیونونو بزګران او کارګران یې د روسیې په ښارونو او کلو کې د یوه ویروونکي نظام په سیوري کې وتکول او د ژوند په تیته کچه کې یې وساتل. البته په استعماري روسیه کې نیږدالي حاکمه طبقاتو او بورژاګانو په ټوله امپراتورۍ کې ګټه ترلاسه کوله او ښه غوره ژوند یې درلود، خو د عامه خلکو ژوند په خوارۍ کې و.

## تزاري روس په فنلد کې

د روس د تزاري دولت د بر پوست چلند د فنلد د هېواد په هکله و، په دیارلسمه پېړۍ کې فنلد له سویډن سره وتړل شو. دغه هېواد په اوولسمه پېړۍ کې د پوهنتون لرونکی شو او په اتلسمه پېړۍ کې د تزاري دولت تر برید لاندې راغی او خپلې جنوب ختیزې سیمې یې له لاسه ورکړې. زاري دولت وروسته بیا څو ځله په فنلد باندې یرغل وکړ او د نولسمې پېړۍ تر پیل پورې د دغه هېواد تر پلازمینې ورسېد. په فنلد باندې یې یرغل وکړ او د نولسمې پېړۍ تر پیل پورې د دغه هېواد تر پلازمینې ورسېد. د فنلد خلکو په زوروتیا سره د هېواد ساتنه وکړه، خو د دواړو خواوو ځواکونو سره برابر نه و، نو ځکه فنلد له سویډن ځنې جلا او روس پورې وتړل شو. سره له دې، چې د فنلد ګراوندوشه خپل ملي ماهیت وساته، خو وروسته وروسته بیا د روس دولت د فنلددیت له کاره وغورځاوه او روسي ژبه یې په دولتي چارو کې ورد کړه. د نولسمې پېړۍ په پای کې د فنلد ډاک د پترو ګراد له ډاک سره وتړل شو، د فلنددیت هم د نویو مقرراتو تابع شو او واکونه یې لږ شول. وروسته بیا د فنلد ملي اردو د روسیې حربیې له وزارت سرایو ځای کړل شوه. د فنلد د خلکو مقاومت او پاڅون پیل شو او د روسیې ظالم جنرال بوبریکوف یې مړ کړ. د روسیې صدراعظم استولیپین د فنلد د چارو سیده اړیکې له امپراتور سره پرې کړې او د روسي کابینې پورې یې ایساري کړې او په پای کې یې د فنلددیت دروازې هم وتړلې.

## په پولند کې

پولند له نهمې پېړۍ څخه تر څوارلسمې پېړۍ پورې یو پراخ هېواد و. په دیارلسمه پېړۍ کې یې رکولای شول، چې د مغلو د یرغل د سیلاو مخه د اروپا په لوري ونیسي. د پولند د پاچایانو لړۍ په شپاړسمه پېړۍ مخ په ځوړ شوه او د فیوډالانو په غوښتنه د دغه هېواد پاچاهي انتخابي شوه او سلطنت تر ډېره په بهرنیانو پورې اړه پیدا کړه. د پاچا د هر ځل انتخاب په دوره کې په پولند کې ګډوډي پیل شوه او په هر ځل به فیوډالانو مرکزیت ضعیف کړ. روحانیونو خلک لوټل او د پروتستانو او کاتولیکانو ترمنځ یې دښمني اچوله.
په اتلسمه پېړۍ کې د پولند انتخابي پاچا فریدریک او ګوست د سلطنت د میراثي کولو لپاره له روسانو

Scanned by CamScanner

ځخه مرسته وغوښته. نو ځکه د روسانو لښکرې پولند ته ننوتې له هغه وروسته یې فرمایشي دیت د پولند د پوځ لپاره فقط اتلس زره تنو پورې محدود کړ د او ګوست له مړینې ځخه وروسته (لیشچنسکي) د پاچا په توګه غوره شو. خو د روسانو شل زره کسیز پوځ مداخله وکړه او د دوهمې ملکې کاترین ملګري (پونیاتوسکي) یې په تخت کښېناوه په دې توګه کورنۍ جګړې پیل شوې او د پولند خاین دولت د روسیې د دولت په ملاتړ. د پولند ملت وټکاوه.

دغه جګړې لومړی پېنځه کاله خو وروسته بیا تر دېرشو کالو وغځېدې یو خل خلکو د (کوزیوشکو) په ملاتړ روسان له وارسا او ویلنا ځخه وایستل. خو روسي لښکرو بیا وارسا ونیوله او د روس امپراتور د پولند پاچا شو او ظلم او ځپښناك لا زیات شو. آزادي غوښتونکي ترور شول او بندیان شول او بزګران لا بېوزلي شول په نولسمه پېړۍ کې خلکو د روسانو په وړاندې پاڅون وکړ. یو کال یې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ. د روسانو پوځو وارسا په توپونو وویشته او خلك یې وځپل. له دې ځخه وروسته پولند د روسیې د هېواد یوه برخه شو دیت او ملي پوځ لغوه شو. پوهنتون او یو شمېر ښوونځي وتړل شول. پېنځه زره کورنۍ سایبریا ته تبعید. د پولند کتابتون. قیمتي شیان. تاریخي آثار او شتمني روسیې ته یووړل شول دې پسې وروسته په محکمو کې پولندي ژبه منع او پر ځای یې په ښوونځیو کې روسي ژبه دود موقوفات ونیول شول او ارتو دوکس غوره وګڼل شو. دیرش-ځلوېښت کاله وروسته یو ځل بیا پولندیانو د بهرنیو د واك په وړاندې پاڅون وکړ. خو وځپل شول. خو خلکو خپلو پاڅونونو ته دوام ورکړ. پټ ګوندونه یې جوړ او دارې یې واچولې. روسانو په ټول هېواد کې نظامي حکومت واکمن کړ او د خلکو وژنه او لوټ یې ترسره او د مړو د فاتحې مراسم یې منع کړل. په۱۸٦۴ کې روسي ژبه د پولند رسمي ژبه اعلان شوه. دوه کاله وروسته د پولندیانو له خوا د ځمکو پېرودل منع شول. لنډه دا چې پولند د روسیې یو ایالت شو او نوم یې د نړۍ له نقشې ځخه پاك شو. د پولند د نوم پر ځای (ویستولي ایالتونه) غوره شو. چې دا د پولند د یو سند نوم و. په دې توګه د لومړۍ نړېوالې جګړې تر پیل کېدو پورې د پولند د هېواد خلکو لکه د بانبې له خوا ښکار شوې مرغۍ په شان د بانبې په منګولو کې سلګۍ وهلې.

## په منځنۍ اسیا کې

منځنۍ آسیا یو تاریخي هېواد دی. چې خپل یو تفصیلي تاریخي لري. په پېنځلسمه پېړۍ کې ازبکان په منځنۍ آسیا واکمن شول او ځو امارتونه یې جوړ کړل. چې ډېر مشهور یې بخارا. خوقند او خیوه و. د بخارا وروستي امیران. چې کله د روس له ښکېلاك سره مخامخ شول. د ازبکانو له نسل او د مانغیت له لړۍ ځخه وو. د خوقند (فرغاني) امیران هم د (مینګ) له سلسلې سره تړلي او د ازبکانو له نسل ځخه وو. د خیوې امیران لومړی ازبك شیبانیان او بیا ورپسې ازبك قونغزاد شول. تر ټولو مخکې د خیوې امارت په اتلسمه پېړۍ کې د روس د دولت تر استعماري بریدونو لاندې راغی. د لومړي پتر پوځ په ۱۷۱۷ کې په خیوه ورغی. خو د لارې ستونزې او د خلکو مقاومت ماتې ورکړه او خیوه تر نولسمې

پیړۍ پورې په امن کې پاتې شوه. د روس دولت په ۳۹ ۱۸۴۰ کې بو خل بیا په خیوه برید وکړ او د سیحون د سیند د تویېدو تر سیمې ورسېدل. په ۱۸۷۳ کې نامتو جنرال کافمان برید وکړ او د خیوې خانیې اړ کړه. چې د روس تر ملاتړ لاندې راشي. خو د روسانو ملاتړ د خیوې د ټولنیزو چارو له پرمختګ سره کومه مرسته ونه کړه. د خیوې کورنۍ اداره د داسې خانانو په لاس کې وه. چې په خپله به یې د خلکو دعواګانې فیصله کولې استنطاق او احکام ټول شفاهي وو. د ښېښو مرافعه به قاضي ته راجع کېده.

اولوی قاضي د عدلي محاکمو په سر کې و. د خیوې وزیر (مهترآغا) نومېده. له هغه څخه پسې راتېت یساول باشي. قدش بیګیو دیوان بیګي. کاروان باشي او میرزا باشي د حکومت اجرائیه هیئت جوړاوه. د خیوې معارف د بخارا تر معارف څخه وروسته پاتې و. یواځې د شلمې پېړۍ په پیل کې عبدالغني بای او الوغ محمد محرم نوی ښوونځی خیوه کې جوړ کړ او د خیوې خان اسفندیار او د هغه وزیر اسلام خواجه دغه ښوونځي ته پرمختیا ورکړه. خیوه په ۲۹ اداري خان نشین واحدونو وېشل شوې وه او د عسکر او یساول په نومونو بې نظمه وګړو د پولیس دنده پر مخ بیوله. د لیکنې رسمي ژبه (ترکي) او پیسه یې د سرو زرو سکه او د سپینو زرو تنګه وه یوه تنګه شپاړس مسې پوله کېده. د سکې پر یوه مخ د خیوې د خان نوم او په بل یې داسې لیکل شوي وو (ضرب فی خوارزم) د هېواد پلازمېنه د خیوې ښار و. چې څلوېښت زره تنه نفوس. ۲۰ جوماتونه. ۳۰ مدرسې. ۵۰- ښوونځي یو څو کاروانسرایونه. سرپټي چارسوګان او یو څو لویې ودانۍ یې درلودې نوی اورګنج ښار لږ نفوس او پرمختللې سوداګري یې لرله. زاړه اورګنج پېنځه زره تنه نفوس. لوی کاروانسرایونه او اتیک عمارتونه لرل. د شیخ نجم الدین کبري قبر هم همدغه ښار کې دی. خانقاه. مانغیت او کورکن د خوارزم مشهور ښارونه وو. په شلمه پېړۍ کې د اکتوبر له انقلاب وروسته تاشکند د خیوې د انقلابیونو د شورا مرکز وګرځېد. جنید خان یو ترکمان خان د خیوې د خان اسفندیار خان په وړاندې پاڅون وکړ. خیوه یې ور څخه ونیوله او اسفندیار خان یې تېښتې ته اړ کړ. دا مهال سور پوځ خیوې ته را واستول شو او کوک محمد خان او غلام عزیزخان له پېنځلس زره خیوه یې سرتېرو او د خیوې له انقلابیونو سره یو ځای له سره لښکر سره یو ځای شول، جنید خان وتښتید او په خیوه یې شورایي انقلابي حکومت جوړ شو.

## په ترکمنستان کې

د ترکمنستان خلك زیاتره کوچیان وو او په هماغه پخوانیو بنو د خپلو (باتور) مشرانو تر مشرۍ لاندې یې ژوند کاوه. چې په ډېرو سیمو یې بریدونه هم کول. انتخابي وکیلانو د چارو واګې په لاس کې لرلې لویې جرګې مهم مسایل حل کول. زاري روس په ۱۸۶۹ کې په ترکمنستان برید وکړ او تر ۱۸۸۱ پورې یې وروسته تر څو جګړو یې په قزل نوم دښته کې د کوك تیپه جنګي کلا ونیوله او پنځوس زره زړور ترکمانو ساتونکو ته یې ماتې ورکړه. ترکمانانو په دغه جګړه کې په زړورتیا دفاع وکړه. ملي لارښوونکي لکه محمودقلی. صوفي خان. مراد خان. قاجار خان او بیګ مراد تر وروستیو شیبو پورې

Scanned by CamScanner

راز محمد او محمد تالیق ووژل شول. له هغه څخه وروسته د جګړه وکړه نامتو سرداران یې خواجه کریم. خو معارف یې نه درلود. د اکتوبر له انقلاب څخه وروسته روس دولت له دوی څخه خوانان په پوځ کې نیول. او وروسته بیا یکې شورایي حکومت جوړ او د شوروي اتحاد یو ترکمنستان یو خودمختار جمهوریت شو جمهوریت شو

## پـــه تاشکند کې

په نولسمه پېړۍ کې تزاري روس دولت د سایبریا او اورونبورغ له لوري په ترکمنستان برید وکړ. په ۱۸۵۰ کې یې قازالي او په ۱۸۵۳ کې یې آق مسجد له خوقند دولت څخه ونیول. په ۱۸۲۰م کال کې د جنرال چرنالیف او کافمان پوځونو د توقماق ښار. په ۱۸۲۲ کې د پشپك ښار. په ۱۸۲۴ کې یې اولیا اتا او چمکند ونیول او په ۱۸۲۵ کې یې په تاشکند برید وکړ او دغه د دوه سوه زرو تنو نفوس لرونکی ښار ونیول شو. په دې توګه د ترکستان د نورو ښارونو د نیولو لاره پرانیستل شوه. د تاشکند نامتو مشر او د دغه ښار ساتونکي امیر عالم قلي خان خوقندي په دغه جګړه کې مړ شو. د هغه په ځای سلطان سیدخان دفاع ته ودرېد او د بخارا له امیر مظفر خان څخه یې مرسته وغوښته. خو د بخارا وراسته او فاسد دربار یو هیئت د اسکندر بیګ په مشرۍ تاشکند ته واستاوه او سلطان سیدخان یې تاشکند ته ور وغوښت او اعدام یې کړ.

## په بخارا، سمرقند او خوقند کې

کله، چې تاشکند د امیر مظفر له واك څخه ووت. په ۱۸۲۲ کې یې له روسانو وغوښتل، چې دغه ښار پرېږدي، خو روسي افسرانو هغه ته د جګړې په اعلانولو سره ځواب ورکړ. د بخارا ناکام شوی حکومت روسانو ته د خنج د ښار او را تیپه او دیرج د سیمو په ورکولو هغوی سره روغه-جوړه وکړه. البته روسي افسرانو دغه ډول تړونونو ته چندا ژمن نه وو او جنرال کافمان په ۱۸۲۸ کې یو ځل بیا په بخارا باندې برید وکړ او د بخارا په امیر باندې یې بری ومونډ او بخارا یې د روسانو تر حمایې لاندې راوسته، سمرقند کته قورغان او زیر بولاق یې هم ونیول. له دې څخه وروسته د بخارا دربار د روس په لاس کې د یوې وسیلې حیثیت ومونډ. په ۱۸۷۳م. کال روسانو د بخارا د امیر په مرسته د خیوې حکومت ته ماتې ورکړه او د خیوې امیر محمد رحیم یې پسې وځغلاوه، هغو ترکمنانو، چې دفاع یې کوله د هغوی کورونه ونړول شول. کروندې او څاروي یې لوټ او ډېر یې ووژل شول، وروسته یې بیا د خیوې له تبتیدلي خان سره یو تړون لاسلیك کړ او خوارزم یې د روسانو تر حمایې لاندې اعلان کړ. همدا رنګه د روس دولت پـه ۱۸۷۵ کې د بخارا د امیر پـه لمسون پـه خوقند باندې یرغل وکړ. د خوقند امیر خدایارخان یې مات او د خوقند. اندیجان. نمنګان او مرغیلان ښارونه یې ونیول او د خوقند د امارت پر ځای یې د فرغاني ولایت تشکیل کړ او هلته یې یو روسي حاکم مقرر کړ. له دې وروسته د روس دولت

Scanned by CamScanner

تر ۱۸۸۰م کال پورې د ترکمانانو ټکه، مرو او عشق آباد ټول مجاهد قوتونه خپل تابع وګرځول. په دې توګه د منځنۍ آسیا او د هغې د دولس میلیونو وګړو کیسه پای ته ورسېدله. دا ځکه چې د دوی نالایقه او مغرض حکومتونو لا مخکې دغه هېواد ټوټه ټوټه کړی و، خلک یې بېوزله او ناراض ګرځولي وو، ټولنیز پرمختګ یې په ټپه درولی و او هېواد انحلال ته چمتو شوی و. د بېلګې په توګه هغه بخارا، چې د تمدن او کلتور او فرهنګ زانګو وه او د نساجي، چرمګري او فلزیکاري صنایع یې د پرمختیا په حال کې او سوداګري یې ښه غوړېدلې وه. او په خپله پلازمېنه کې یې ۳۲۰ جوماتونه او اته جامع او سل مدرسې، ۴۰ کاروانسرایونه، ۵۰ چارسو لرل د نالایقه حکومتونو له لامله بې ښوونځي، بې د څښلو له اوبو او بې له عصري معارف څخه پاتې و. د بخارا معارف ډېر لږ او هغه هم یوازې سواد زده کړه او د مذهبي په هکله و. د هېواد تشکیلات په ۲۸ بېګۍ وېشل شوی و. هر بېګي په «املاک داری» وېشل شوی و. دغه تشکیلات د لوی قاضي، قوش بېګي، توقسبا، پروانچي، توپچي باشي او رئیس اعلم په واسطه اداره کېدل.

د بخارا مامورینو له دولت څخه معاش نه درلود، بلکې د خلکو په حساب یې ژوند کاوه. مالیات د بېګ په خوښه اخیستل کېدل، یوه برخه به یې دولت ته ورکوله او نوره به یې خپله خانته اخیسته. کوچنیو حاکمانو هم یوه برخه خانته اخیسته او څه نوره یې د بېګ خولې ته ور رسوله. په دې توګه بزګران لوټل کېدل. د بخارا امیر به په ماڼۍ کې ناست و د څو زره پلیو او سپرو سرتېرو، توپچي او څو سره افسرانو په واسطه به یې بې حده استبداد او ظلم او یو ارتجاعي حکومت په خلکو چلاوه. دغه امیر به د خپلو اعمالو او افعالو په رابطه هېڅ ډول مسئولیت نه درلود. د ترقۍ، نوښت او پرمختګ ټولې لارې یې په ملت باندې تړلې وې. آن دا چې د ۱۹۱۷م. کال د اکتوبر د انقلاب څخه وروسته هم چې د بخارا پاچا کوم مشروطیت اعلان کړ دا هسې په نامه مشروطیت و، خو عملاً یو ړوند استبداد لکه له انقلاب څخه د مخکې په شان ساتل شوی و، تر څو چې د بخارا د آزادۍ غوښتونکو خوانانو کمیټه جوړه شوه، خو امیر د هغو څو تنه اعدام کړل، نور یې ګاکان، سمرقند او تاشکند ته وتښتېدل. هلته یې د سور پوځ په مرسته یو اخطاریه امیر ته راولېږله. خو د امیر له خوا ونه منل شوه. د بخارا ځوانانو له بلوشویکانو سره لاس یو کړ او د امیر په ضد یې جګړه اعلان کړه. د جګړې په پای کې امیر روغه- جوړه وکړه او سل میلیونه صوم تاوان یې ومانه او له وسلې سره یې بلشویکانو ته ورکړل او خپل امارت یې وساته. خو بیا هم امیر ظلم، استبداد او مطلقه اداره له سره پیل کړه، بیا ځوانان تعقیب او اعدام شول. تر څو چې په تاشکند کې انقلابیونو یو لښکر جوړ کړ، دا مهال د امیر د لښکر یوه برخه هم ورسره یو ځای شوه. انقلابیونو د ۱۹۲۰ کال په اګست کې وروسته د چهارجوي، زیره بولاغ او شهر سبز له نیولو په بخارا باندې برید وکړ. هغو ځواکونو، چې ګاکان څخه د هماغه کال په سپتمبر کې په بخارا برید کړی و، وروسته تر درې ورځو جګړې څخه پلازمېنه ونیوله. امیر سید عالم ختیزې بخارا ته وتښتید. په دغه جګړه کې څو زره تنه ووژل شول او نقدي او جنسي خزانه له منځه ولاړه، وزیران ونیول شول، لوی قاضي برهان الدین، رئیس عظام الدین، قوش بېګي عثمان، توقسیا کریم او شل تنه نور د انقلابي محکمې په

حکم اعدام شول انقلابي سرتېرو امیر عالم او د هغه تره پسې واخیستل، خو دواړه افغانستان ته راواوښتل او دلته راوتښتېدل.

## په ګرجستان کې

له یوولسمې پېړۍ څخه تر دیارلسمې پېړۍ پورې ګرجستان یو دولت او تمدن درلود. له دیارلسمې پېړۍ وروسته د مغلو تاړاک ګرجستان له پښو وغورځاوه. په څوارلسمه پېړۍ کې ګرجستان د ترکیې او ایران تر بریدونو لاندې راغی او د دواړو تر منځ ووېشل شو. په اوولسمه پېړۍ کې ګرجستان په ګرجي شهزاده نشینو ووېشل شو، چې ایران ته یې مالیات ورکول هرا کلیوس ددغو ګرجي شهزاده ګانو څخه یو شهزاده و، چې په اتلسمه پېړۍ کې یې د ګرجستان د خپلواکۍ د ډاډمنتوب په خاطر او له بهرنیو ځواکونو څخه د خوندیتوب لپاره یې روسیې ته مراجعه وکړه، دوهمې کاترین د ۱۷۸۳ کال د تړون سره سم ومنله، چې په راتلونکې کې به هراکلیوس د ګرجستان د والي نوم له خان څخه لرې او د ایران تابعیت به پرېږدي، خو د روس د دولت متحد به شي او د ګرجستان د زار نوم به په خان ږدي. د روس دولت به د تل لپاره د هغه د خاې ناستو لپاره همدا لقب او واکونه ساتي. په دې توګه ګرجستان د روسیې تحت الحمایه شو او هغه ته یې وعده ورکړه، چې د ترکیې او ایران له خوا نیول شوې سیمې به یې بېرته اخیستل کېږي او ګرجستان ته به ورکول کېږي او د ګرجستان داخلي خپلواکي ومنل شوه او د دولت سیاسي نظام یې روسیې په مرسته وپېژانده او د روسیې لاسوهنه یې په کورنیو چارو کې منع شوه. خو لږ موده وروسته لومړي امپراتور پال یو ناڅاپه ددغه تړون برخلاف ګرجستان روسیې سره وتاړه، ورپسې د ګرجي مامورینو پر ځای روسي مامورینو وګومارل شول او د روس او ګرجستان نوی تړون (د نولسمې پېړۍ په پیل) وکړل شو او په هغه کې وویل شول، چې د روسیې امپراتور به د ګرجستان زار وي او شپږ زره روسي عسکر به په ګرجستان کې مېشت شي. د ګرجستان د سرو او سپینو زرو او مسو کانونه به روسان په کار واچوي، له هغه څخه وروسته د ګرجستان په محاکمو او ښوونځیو کې روسي ژبه دود شوه، روسان په ګرجستان کې مېشت شول او ډېر لږ مقاومت هم وتکول شو، د ۱۹۰۵ کال په انقلاب کې روسیې ۳۰۰ تنه ګرجیان پرته له محاکمې اعدام کړل او له هغه وروسته د پخوانیو تړونونو په هکله هر ډول خبره کول د زارې دولت له خوا خیانت وګڼل شو او سزا ورته وټاکل شوه.

## په قفقاز کې

کله، چې زارې دولت د قفقاز نیولو ته وکتل، نو له هرې بلې سیمې څخه دلته خلکو ډېر کلک مقاومت وکړ. دغه زړور مقاومت تر نولسمې پېړۍ پورې دوام وکړ. د ابخاز قومونو، د برقوبان او سېدونکو، چرکس وګړو او په تېره د لزګي او چچن خلکو د قفقاز د غرونو په ختیځ کې څلوېښت کاله مبارزه وکړه، سره له دې، چې روسي جنرال یرمالوف، د خلکو تر منځ د مذهبي نفاق د پیدا کولو او د هغوی د غولولو لپاره له هېڅ ډول هڅو څخه ډډه ونه کړه، خو نه د ګولیو ورولو او نه هم د پیسو کارولو ګټه وکړه. د خلکو

Scanned by CamScanner

لاړېږ؛ قاضي ملا محمد د روسانو تول اقدمات له منځه يووړل او د جګړې پر ميدان به يې برې ترلاسه کاوه، په پای کې ملا محمد د غره په يوه څوکه کې دوو روسي جنرالانو را ايسار کړ. د قاضي ځواکونو تر ډېره توري ووهلې، تر څو تول ووژل شول، يواځې شپېته تنه مبارزين پاتې و. دوی د دښمن په ليکو ورګډ شول او قاضي په ګولۍ ولګېد. دښمنانو يې جسد کوڅه په کوڅه وګرځاوه. يو شمېر مظلوم سرتېري له لښکر څخه وتښتېدل او د قفقاز مجاهدينو سره يو ځای شول همدا رنګه د دوی د پوځ يو شمېر پولندي سرتېري هم له قفقاز مبارزينو سره يو ځای شول. دغه پېښه په خپله د ستري روسيې د خلکو او د روسيې د نيولو شويو سيمو په خلکو د تزاري دولت د يو فشار ښودونکې وه. د حمزه بيګ له مړينې وروسته د مبارزينو مشرتوب شيخ شامل ته ور په غاړه شو. نوموړی د قفقاز د تاريخ يوه نامتو څېره ده. هغه ۲۵ کاله نور د روسانو په ضد د خلکو مبارزه رهبري کړه. شيخ ملي اردو منظمه کړه او اداري ته يې د يوه حکومت بڼه ورکړه خپله واک لاندې سيمه يې په اداري واحدونو ووېشله او د حکامو، قاضيانو او تفتيشانو په واسطه يې اداره کړه. هغه يوه مقرره جوړه کړه، چې د هغې له مخې به هر لسو کورنيو يو تن د جګړې ميدان ته استاوه او نارينه بايد له پنځلس کلنۍ پورته تر شپېته کلنۍ پورې د آس سورلۍ او د وسلې کارول زده کړي. مخابرات يې د چاپار په واسطه تنظيم کړل. په پلازمېنه (ودن) کې توپونه جوړېدل او په کليو کې باروت توليدېدل. له دې پرته ماليات وضع شول او جنګي لګښت، ملکي لګښت او د بېوزلو سره مرسته ورڅخه برابرېدل. شامل ګوريلايي جګړو ته ډېر ارزښت ورکړ. هغه لس زره سپور او پنځوس زره پلي پوځ جوړ کړ.

تولستوي، چې د روسانو د لښکر يو سرتيری و او د قفقاز د خلکو په وړاندې يې ظلم وليد کرکه يې پيدا شوه او د عسکرۍ له ليکو جلا شو. هغه د حاجي مراد قفقازي نامتو داستان په همدې هکله ليکلی دی حاجي مراد په پيل کې روسانو ته ورغی، خو وروسته يې ورڅخه کرکه پيدا شوه او وتښتېد او بيا ووژل شو. د شامل نامتو جګړو څخه يوه يې په ۱۸۳۹ کې د جنرال ګراب په وړاندې دفاع وه، چې څلور زره جګړه مار پکې ووژل شول. په دغه جګړه کې قفقازي ښځو هم د اخولقه له نظامي کلا څخه دفاع وکړه. کله چې کلا ونيول شوه، ښځو ځانونه ښکته وغورځول، چې د دښمن ته په لاس ورنشي يو شمېر احساس لرونکو روسي سرتېرو په خپله دغې پېښې ته وژړل. د شامل د مبارزينو غيرت او هڅو د قفقاز په خلکو کې دومره اغېزه وکړه، چې آن هغو قبايلو هم پاڅون وکړ، چې روسانو ته تسليم شوي وو.

د شامل يوه بله نامتو جګړه (دارقو) نومېږي، چې شامل هغه ځای په قصدي توګه روسانو ته ور پرېښود او په دې توګه يې د دښمن لښکر غافل کړ او بيا يې ورباندې بريد وکړ. په دغه جګړه کې څلور روسي جنرالان او د دښمن په زرګونه سرتيري ووژل شول. په پتروګراد کې هلهله جوړه شوه، امپراتور شهزاده و ورونت زوف له يو نيم سل زره سرتيرو سره قفقاز ته واستاوه. هغوی په تفليس کې لښکر کوټ جوړ کړ او بريدونو باندې يې پيل وکړ. خو بيا هم خلکو شپاړس کاله نور هم دفاع وکړه. روسانو کلي وسوځول او ځنګلونو ته يې اور واچاوه او په نيولو شويو سيمو کې يې د پوليسو ژاندرام قطعات او مهاجر قزاق سرتيري واچول. روسي لښکرو له څلورو خواوو په داغستان بريدونه وکړل، د اويا کلونو اخ و ډب او په

Scanned by CamScanner

تېره بیا ۲۵ کالو کې د داغستان ځوان نسل کم شو او کاختي او د وینو کمښت خلک له پښو وغورځول شامل ته په پای کې یواځې ځلور سوه تنه مبارزین ور پاتې شول. چې د ګونیپ په کلي کې ایسارشو دغه اتل دومره جګړه وکړه. چې یواځې ۴۷ تنه ژوندي پاتې شول. شیخ شامل لکه د زمري په شان په لومه کې ونښت او پترو ګراد ته واستول شو. د روس دولت نوموړی په کالوګا (د روسیې منځ) کې بندي کړ او داغستان یې تول ونیو.

## په ایران کې

د روس دولت په اتلسمه پېړۍ کې په ګرجستان باندې، چې د ایران تحت الحمایه و. برید وکړ او دربند یې ونیو. په بل کال یې باکو او دشت هم ونیول دا څکه چې شاه حسین صفوي او د هغه زوی طهماسب مرزا د روس له دولت څخه د افغانستان په ضد مرسته وغوښته شیروان، داغستان، ګیلان، مازندران او استرآباد یې هغوی ته ورکړې و. افغان شاه اشرف د یوه تړون له مخې د ایران یو شمېر سیمې له روسانو څخه بېرته واخیستې دې پسې نادرشاه افشار د خزر ساحلي ولایتونه، خزر، باکو او دربند وژغورل آقا محمد خان قاجار په ۱۷۹۵ کې داغستان هم ونیو، خو د روسیې دولت د هیراکلیوس ملا وتړلو او دربند او باکو یې ونیول د کاترین له مړینې وروسته روسانو داغستان پرېښود. هغه آقا محمد خان قاجار ونیو او په خپله هم بیا هماغه مړ شو. د روسیې دولت په ۱۸۰۵ کې د ایران د دولت پوځ ته ماتې ورکړه او ګرجستان یې ونیو. وروسته بیا د روس ځواکونو ایروان باندې برید وکړ، خو د ایران ولیعهد عباس مرزا دفاع وکړه. د روس ځواکونو په رشت باندې برید وکړ، خو ناکام شول او باکو ته بېرته ستانه شول. د ایران او روسیې تر منځ جګړې روانې وې، تر څو چې په پای کې روسي ځواکونو د ایران ځواکونو ته ماتې ورکړه او فتح علي شاه قاجار د روغې-جوړې غوښتنه وکړه. د ګلستان په تړون کې (۱۸۱۲) کې ګرجستان، دربند، باکو، شیروان، شکي، ګنجه، قره باغ او د طالش یوه برخه روسي ته ور پرېښودل شوه او په خزر کې د بېړۍ چلولو حق له ایران څخه واخیستل شو. د ایران دغه ټول زغم سره سره روسیې دا ومنله، چې عباس مرزا په رسمي توګه د ایران ولیعهد شي، د ایران ستونزه یواځې په همدې حل نه شوه او وروسته وروسته بیا د روس دولت له ایراني دولت څخه غوښتنه وکړه، چې د ترکیې په ضد له هغوی سره یو ځای شي او روسي پوځ ته دې لاره ورکړي، چې د استرآباد او خراسان له لارې خیوې ته ورتیر شي او په رشت کې د دوی استازي هم ومني، خو دغه غوښتنه ونه منل شوه. په ۱۸۲۵ کې د روسیې دولت د ایروان او کوکچې (سیند) تر منځ سیمې ونیولې، د عباس مرزا ځواکونو ماته وخوړه او روسي ځواکونو په آذربایجان بری وموند. د روس پوځ ایروان ونیو او تبریز ته ننوتل او مخه یې د ایران لوري ته کړه. عباس مرزا روسانو ته ورغی او په ۱۸۲۸ کې یې د ترکمانچای تړون لاسلیک کړ. د دغې تړون له مخې نخجوان وسیې ته پینځه میلیونه د جګړې تاوان، د کونسولي قضاوت حق او سوداګریز امتیازات ورکړل، یعنې د ایران سیاسي او اقتصادي خپلواکي تر پښو لاندې شوه، خو د ایروان خلکو په بل کال باندې د روسیې استازي ګریبایدوف په تهران کې مړ کړ. له دې پېښې

ځخه د ایران دولت په ویره کې شو د فتح علیشاه لمسی خسرو مرزایي د روس دربار ته د عذر لپاره واستاوه، له دې کال ځخه وروسته روسان. د ایران د قاجار په دربار کې لاسبرې شول او هغوی یې په هرات باندې برید کولو ته ولمسول د فتح علیشاه له مړینې وروسته سره له دې، چې د فتح علیشاه زامن هم ود، خو د روسیې او انګلیس د سفیرانو په ملاتړ سره محمد مرزا د هغه لمسی پاچا شو. چې هغه د بهرنیانو او روس تر اغیزې لاندې و. ایران د صفوي دولت په پای کې مخ په خوړ شو. د قاجاري لړۍ پاچایان ناتوانه خلك وو، چې د اروپايي هیوادونو په سیالیو کې تکول کېدل. د روس دولت د پاریس تر خلیج پورې د پرمختګ هیله درلوده، خو انګلیسانو غوښتل، چې د هغوی مخه ونیسي. دوی همدا کار په نږدې خټیځ کې هم د روسانو فرانسې او جرمني په وړاندې وکړ. ایران د دغو دوو سیالو خواکونو تر منځ ازو، چې د روس او انګلیس د خواکونو تعادل ساتل د خپل سیاست د بنسټ په توګه ومنې. خو هر کله به چې د یوه بل در بیمګړي پښه رامنځته شوه، لکه فرانسه یا جرمني،نو ډېر ژر به روس او انګلیس لاسونه سره یو کړل او ددغه دربیمګړي په وړاندې به ودرېدل. خو د ایران خلکو یو بل دربیم خواك غوښت، چې وکولای شي. دغه دواړه له منځه یوسي. خو ددې سرچپه د انګلیس او روس نږدې کېدلو د ایران ملي ژوند له ګواښ سره مخ کړی و. له همدې لامله ایران جرمني ته په پراخه پنډه پښه راغلاست ووایه. خو وروسته یې لیدل. چې جرمني هم خان روسیې ته ورنږدې کړ او د ایران پر خای یې د بغداد د وسپنې پټلۍ ته پام واړاوه. ایران له تزار روس ځخه کرکه کوله. خو انګرېز سره ښه و. دا خکه چې روسانو یې خمکې نیولې وې. د مظفر شاه پر مهال د ایران د خلکو د مبارزې پایله دا شوه. چې مشروطه حکومت جوړ کړي. وروسته د ۱۹۰۷م کال له تړون ځخه د روس او انګلیسي دواړو دولتونو تر منځ وشو او د ایران ځمکې یې سره وویشلې ایران له انګرېز ځخه هم کرکه پیدا کړه. چې جرمني له دغې کرکې ځخه د لنډ وخت لپاره ګټه اوچته کړه.

## په افغانستان کې د روس د تزاري دولت سیاست

د روس تزاري دولت چې کله په مرکزي آسیا کې پښه ټینګه کړه، نو یو څه راضي شو. سره له دې، چې هندوستان یې د نړۍ خزانه ګڼله او هم یې له ګاونډیانو سره نږدې شوی و. خو لا یې هم پر هندوستان باندې د واك خوب نه لید، ددې پر خای یې د اسلامبول او د ایران د شمال د نیولو هڅه کوله. البته د نولسمې پېړۍ په پیل کې. چې کله ناپلیون پر هند باندې برید ته چمتو شو، دغې خبرې په روسانو هم اغېزه وکړه او لومړي پال په ۱۸۰۱ کې جنرال اورلرف ته امر وکړ، چې د هند د نیولو په خاطر له اورنبرګ، بخارا او خیوې ځخه له ۲۲ زره سرتېرو او ۲۴ توپونو سره ور روان شي. خو جنرال لا اورنبرګ ته نه و رسېدلی، چې امپراتور پال په ۱۸۰۱ کې د انګلستان د سفیر په لمسون (کنټ دوپالهن) پتروګراد د نظامي افسرانو له خوا د خوب په کوټه کې ووژل شو او دغه نقشه دده له مړینې سره یو خای له منځه ولاړه. لومړي الکساندر هم غوښتل، چې دغه نقشه تکرار کړي او غوښتل یې، چې له فرانسې او دا ستریا له پوځونو سره په ګډه په هند برید وکړي او ۲۵ زره روسي سرتیري ور ولېږي او د

روس، فرانسې او اتریا د غه څواکونه د استرآباد، هرات او کندهار له لارې هند ته ورننوځي، خو دغې نقشې هم پوخ بنسټ نه درلود، نو ځکه عملي نه شوه. وروسته تر دې فرانسې له ایران سره د یو ځای کېدو هڅه وکړه او څو کاله وروسته د روس دولت په هند باندې د برید پر ځای له انګلیس سره لاس یو کړ او د هغه په مالي مرسته یې جګړه پیل کړه.

په هر حال، د همدغو نقشو له لامله و، چې د «سته ساروف» په وینا(۱) چخاچف یوه نوې نظریه وړاندې کړه، چې د هغې له مخې به یو پوځ له استرآباد څخه ولېږل شي او هرات به ونیسي او ۳۰ زره سرتیري به نور له کندهار څخه د ډېره اسمعیل خان له لارې لاهور ته استوي. خورلیف هم همداسې یوه نقشه جوړه کړه، آن دا چې «سکوبي لیف» لاندیني درې ټکي هم وښودل: له کابل سره د خبرو-اترو پیل کول او په کابل کې د یوه قول اردو د جوړولو له لارې د دغه اړیکو لا ټینګول، دوهم د کابل نیول او د هند خوا ته د تګ د لارې ښودل او دغه کار ته د لازمو تشکیلاتو برابرول او درېیم دا، چې لکه د امیر ګورګان په شان د لوټ او تالان په بڼه هندوستان ته ورننوتل، خو دغه ټولې فرضیې د عملي کېدو او پر مخ بېولو وړ نه وې، دا ځکه نو د یوې نیمې پېړۍ په ترڅ کې د بې عمله فرضیې په توګه پاتې شوې، آن دا چې روسانو په هند باندې د یرغل پر ځای د شلمې پېړۍ په پیل کې ایران او افغانستان له انګلیس سره په ډېره وروړۍ او خوشحالۍ د خپل نفوذ د سیمو په توګه په خپل منځ کې ووېشل. په دې توګه ښکاري، چې افغانستان د روس د دولت د سیاست له پلوه فقط د ضرورت پر مهال د هند د انګلیس له دولت څخه د ویرې پر مهال د یوه ګواښ په توګه یوه وسیله ګرځېدلای شوه او بس. خو د افغانستان خوشباوره دولتونو دغه ډول سیاست نشو پېژندلای او د روس د دغه سیاست له درک کولو څخه عاجز و، نو ځکه هر ځل به چې دوی ته تزاري روس د دوستۍ لاس راغځاوه دوی به په ډېر صمیمیت هغه ونیو او باور به یې ورباندې کاوه تر څو چې د افغانستان د امیر دوست محمد خان او امیرشیرعلي خان دولتونه د داسې دوستۍ په تمه او باور له منځه ولاړل، د همدې پېښې په غبرګون کې به د افغانستان خلکو د روسانو او انګریزانو د پرتله کولو پر مهال ویل "ژیړ سپی د سورلنډي ورور دی."

د روس دولت، چې کله ایران د ګلستان او ترکمنستان د تړونونو په لاسلیك کولو سره تر خپل اغېز لاندې راوست «انګریزانو له ایران سره د پخوانیو نظامي او مادي مرستو د ژمنو سره سره ایران د روسانو په وړاندې یواځې او ناتوانه پرېښود.» او په دې لټه کې شول، چې د ایران په واسطه او د ایران په نوم په افغانستان کې سیاسي نفوذ ترلاسه کړي، نو ځکه د روس دولت د ایران دولت د هرات نیولو ته ولمساوه او د کندهار واکمنو سره یې هم ژمنې وکړې، چې هرات به کندهار سره وتړل شي او ایران سره یې ژمنه وکړه، چې کندهار او هرات به دواړه د ایران تر واك لاندې وي. دا یواځې نه، بلکې د روس دولت پرېکړه وکړه، چې کابل به د سرو او شنو باغونو په ښودلو سره او د پېښور د بېرته د ترلاسه کولو په ژمنې سره تر خپل اغېز لاندې راولي او کابل به د ایران په لاس د افغانستان د ویش لپاره د ایران ملګری کړي. د ایران په دربار کې د روسیې سفیر کنت سیمونچ پرله پسې د همدغې نقشې لپاره کار وکړ، همدا

۱- د "افغانستان" کتاب د سته ساروف تالیف، د مسکو د ۱۹۲۱م کال چاپ.

۱۸۲۷ کې لومړی یو ایراني استازی کندهار ته ورغی او ویې ویل. چې امیر دوست محمد خان
بي په ځه سوغاتونه راوړي دي دغه ایراني داسې ښودله. چې د تړون د لاسلیک کولو واک او د هر
په موبو ځه د کولو د ژمنې صلاحیت هم لري. لکه څرنګه. چې بیا الکساندر برنس ولیکل کابل له دغه
پول مرستو ته ترلاسه نه کړل او بلنه یې ورنه کړه. نو په دې مهال کنت سیمونچ خپل یو روسي استازی
استازي ځه کندهار ته واستاوه دغه استازی کابل او کندهار سره د مرستو ژمنه وکړه او د
وینکوویچ، کابل او کندهار سره د مرستو ژمنه وکړه او د
بیرته ترلاسه کولو کې یې خپل سیاسي ملاتړ هم وښود
ییږد د روس د زار یو لیک هم امیر دوست محمد خان ته ورکړ. د روسانو د دغو اړیکو پایله دا
وینکوویچ د کندهار، سردارانو له ایران سره یو تړون جوړ کړ او دا یې ومنله. چې ایران دې هرات ونیسي
نو، چې د کندهار سره دې وتړي او په کندهار باندې د دښمن د یرغل پر مهال کندهار سره مرسته وکړي البته
او کندهار به دواړه ایران ته باج ورکوي. د ایران او کندهار د دغه تړون ضمانت سیمونیچ کړی و
هرات او دغې پېښې انګریزان په هند کې په ویره کې واچول. د لندن د بهرنیو چارو وزارت په لیکلې توګه د دغې
موضوع وضاحت د روس له دولت څخه وغوښت. د روس د بهرنیو چارو وزیر کنت نیسلرود د ۱۸۳۸
کال د اکتوبر په شلمه په خواب کې انکار وکړ او ویې ویل. چې وینکوویچ ته د سوداګریزو چارو په
هکله ماموریت ورکړل شوی و او بس. له بلې خوا دا مهال افغانستان د فیوډالي جګړو په اور کې
سوځېد، چې د روس له غوښتنو سره مخامخ شو په کابل او کندهار کې محمدزایي ورونو (سردار
کهندل خان، سردار رحمدل خان، سردار مهر دل خان او امیر دوست محمد خان) ته یواځې دا، چې له یو
ولایت (هرات) څخه د دفاع په لاره کې خدمت ونه کړ. بلکې د هرات د زړورو ساتونکو په وړاندې له
دښمن سره یو ځای شول او د دښمن سیاسي او نظامي ملاتړ یې وکړ. د افغانستان د وروستیو پېړیو په
تاریخ کې دا ډول بېلګه نه وه.

په هر حال، د هرات خلکو د هرات ساتنه وکړه او دښمن یې مات کړ او دښمن بېرته ستون شو. خو له بلې
خوا د انګرېزانو دولت سره له دې، چې کومه بهانه هم ورسره نه وه، په خپله یې د ایران پر ځای په
افغانستان باندې برید وکړ او پرمختګ یې پیل کړ. خو روسانو د هغو ژمنو سره سره، چې کړې یې وې
څه وکړل؟ هغه د یوه ننداره، چې په توګه به غونډۍ کښېناست او له لرې یې د کندهار او کابل د
حکومتونو نړېدل او پرځېدل کتل، چې د خپل سیال په لاس ترسره شول او آن دا، چې په خوله یې هم څه
ونه ویل. د کندهار سرداران ایران ته وتښتېدل او امیر دوست محمد خان له جیحون څخه پورې وت له
دې لامله، چې له روسیې څخه یې کومه تمه نشوه کولای، نو بېرته راستون او انګرېز ته تسلیم شو او
هند ته ولاړ. البته د افغانستان خلکو لکه هغسې، چې ایران ته یې ماتې ورکړې وه او انګرېزانو یې
سیل کاوه، دا ځل یې انګرېزانو ته ماتې ورکړه او ایران او روس ورته کتل. د روس دولت په ۷۳-۱۸۶۹
کلونو کې د انګلیس له دولت سره موافقه کړې وه، چې افغانستان به د دوی د نفوذ له ساحې څخه بهر
وي، په دې توګه د افغانستان او د روس د تزاري دولت تر منځ د دوستۍ لومړی پړاو پای ته ورسېد او
په تاریخ کې یې یو د عبرت لوست پرېښود. څلوېښت کاله وروسته بیا داسې ښکارېدل، چې د

Scanned by CamScanner

افغانستان او تزاري روسیې اړیکې په یوه بڼه بیا تکرارېږي. دا ځکه چې د زاري روسیې دولت، چې د برلین د کنګرې د جوړېدلو د ګواښ او د سان ستیفان د تړون د موادو د بدلون (د روسیې او د ترکیې د سلطان تر منځ تړون)، له لامله د لویو هېوادونو په تېره د انګلیس تر ګواښ لاندې راغلي وو. دا هلې ځلې یې کولې. چې د انګرېزانو دولت په خپل ځای کښېنوي او په کنګره کې خپل دریځ پیاوړی کړي، نو ځکه د افغانستان له لوري بیا د انګرېزانو وېره زیاته شوه، د روس امپراتور دوهم الکساندر امر وکړ، چې پتر الکساندر د آمو او چارجوي په لوري یو لښکر واستوي. جنرال کافمان دې د بخارا او سمرقند له لارې د بلخ او بامیان په لوري مخ په کابل روان شي. او جنرال ایراموف دې هم د سمرقند له خوا مخ په چترال او کشمیر حرکت وکړي. همدا مهال د روس زاري دولت د دوستي یو درواغجن لاس د افغانستان خوا ته اوږد کړ. په ۱۸۷۸ کې د روس د دولت د استازیو یو لوی هیئت د جنرال ستولیتوف په مشرۍ له یوه مرستیال، یوه ډاکتر او پنځوس تنو سپرو سره کابل ته راغلل. امیر شیرعلي خان لکه د خپل پلار په شان د روسانو د دوستۍ لاس ښه تود کېښکود او لکه هغسې. چې امیر دوست محمد خان د انګرېزانو هیئت (الکساندر برنس)، له کابل څخه ناکام وشاړه. او ویتکوویچ یې په غېږ کې ونیو. هغسې هم امیر شیرعلي خان د انګرېز استازې (چمبرلین) په کابل کې ونه مانه او خپله ټوله پاملرنه یې د ستولیتوف خبرو او ژمنو ته واړوله. دا ځکه چې یو څه موده مخکې جنرال کافمان روسي ګورنر جنرال (چې ماورالنهر کې و)، له امیر شیرعلي خان سره دوستانه مکاتبات او مراسلات پیل کړي وو. کافمان د روس د دولت له لوري په خپلو ټولو لیکونو کې د افغانستان پاچا ته ډاډ ورکړی و، چې د افغانستان په چارو کې به لاسوهنه نه کوي. لکه هماغسې چې د افغانستان دولت د خیوې او بخارا په چارو کې لاسوهنه نه کوي، خو وروسته وروسته د انګرېزانو له خوا د جنرال کافمان او امیر شیرعلي خان لیکونه په جعلي توګه داسې خپاره شول، چې په ټولو کې تحریف لیدل کېږي او هغوی دا ادعا کوي، چې مونږ دغه لیکونه هغه مهال ترلاسه کړل، کله مو چې په کابل کې د بالاحصار شاهي دفتر ونیو. دلته به ددغو لیکونو څو بېلګې راوړو:

کافمان د ۱۸۷۰ کال د مارچ په ۲۸مه خپل لیک داسې پیل کړی و:

"... سره له دې، چې ستاسې لرې ګاونډیان یاستو، باید د دوستۍ مزی ټینګ او زړونه سره نږدې کړو، زه د افغانستان په کورنیو چارو کې هېڅکله د لاسوهنې خیال نه لرم، نه یواځې دا چې افغانستان یواځې د انګرېزانو تر حمایې لاندې دی (حال دا چې داسې نه و) او د روس او انګلیس د دولتونو تر منځ دوستي او یووالی شته(!) بلکې دا ځکه هم چې تاسې د بخارا په چارو کې لاسوهنه نه ده کړې... کله چې سردار عبدالرحمن خان ما ته لیک راولېږه او اجازه یې غوښتې وه، چې تاشکند ته راشي، ما د هغه په ځواب کې ورته ولیکل: اعلیحضرت د روسیې امپراتور به د هېچا په هکله خپله مهرباني ونه سپموي او د کور دروازه یې هر میلمه ته پرانیستې ده، په تېره بیا بېچاره ګانو(!) ته مونږ به تاشکند ته ستاسې له راتګ څخه خوښ شو او دا هیله مه لرئ، چې له امیر شیرعلي خان سره په شخړه کې زه ستاسې پلویتوب یا ملاتړ کوم. دا ځکه چې امیر ښه چلند له لاسه نه دی ورکړی او شکایت ته یې کوم لامل نشته، چې مونږ

دغه دولت له لاسه ورکړو... ډېر به خوښ شم ستاسې له مینې ډک لیک ځواب به ډېر ژر را ورسېږي او ماته ډاډ راکړئ، چې د خیوې او بخارا د خانانو په چارو کې تاسې هېڅ لاسوهنه نه کوئ.

امیر شېرعلي خان، چې د کافمان په لیک کې د افغانستان په اړه د انګرېز د حمایې تکي ته خیر شوی او د خپل خان په وړاندې د امیر عبدالرحمن خان د استعمال اشاره ولیده، داسې ځواب یې ورکړ: ډېر ستاسې له وعدو څخه خوښ شوم او مننه کوم، چې دا چې د روس د اعلیحضرت امپراتور عمال به نه په پټه او نه په څرګنده د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوي او د افغانستان د دښمنانو هېڅ ډول ملاتړ به نه کوي او وسله او کمک به ورته نه سوي ماهم د انګلیس د دولت ته خبر ورکړ. خپلو پوله ساتونکو ته مې حکم ورکړی، چې وروسته تر دې به زمونږ د هېواد په چارو کې او د هغو قبایلو په چارو کې چې له سرحد څخه هاخوا دي هېڅ لاسوهنه نه کوي او ګواښ مې ورته کړی دی. زه خپله ډېره هڅه کوم، چې د افغانستان سرحدات ډېر منظم وساتم، نه یواځې له دې لامله، چې د هندوستان واکمن د روس له اعلیحضرت امپراتور سره دوستان دي او له ماڅخه یې هیله کړې، بلکې ددې په خاطر هم زه ډاډه یم، چې زما د هېواد او ملت خیر په کې دی. چې تاسې تل خوښ او بې شکایته اوسې. هیله لرم، چې ما تل له خپلو دوستانو څخه وشمېرئ...

کافمان به ډېر تاکید کاوه، چې د روس له دولت سره دوستي به هېڅکله د افغانستان د پښېمانۍ لامل نه شي (د کافمان د ۱۸۷۰ کال د دسمبر د ۲۱ لیک). کله چې روسانو خوقند ونیو کافمان د افغانستان پاچا ته د ۱۸۷۲ کال په لیک کې داسې خبر ورکړ: د روس د دولت هیله داده، چې خپلو ګاونډیانو او خپلواکو پاچاهانو او واکمنو سره په سوله او روغه جوړه کې اوسي او دا خیال نه لري، چې د هغوی سیمې ونیسي. دا چې د خوقند خان نشیني ګانې د روس دولت د خپل هېواد یوه برخه وګرځوله دا د هغو سیمو د خلکو د هوسایني او خیرخواهۍ په خاطر، نه په دې خاطر، چې د روس دولت ته کومه ګټه ورسېږي. او ډاډه یاستو، چې د خوقند خلک به د اعلیحضرت امپراتور له اوامرو پرته بل هېچا ته مطیع نه شي.

کافمان خپل د ۱۸۷۸ د جون په لیک کې امیرشیرعلي خان ته لیکلي و:

... د عالي حضور عرض ته رسوم، چې په دغو ورځو کې زمونږ د دولت (روس) او انګلیس تر منځ خبرې اترې ستاسې د هېواد په هکله ډېرې د غور او فکر کولو وړ دي. له دې لامله، چې زه نشم کولای خپل نظریات په شفاهي توګه درته ووایم، نو ځکه مې له خپل لوري څخه جنرال استولیتوف د وکیل په توګه را واستاوه. دغه سړی زما رښتینې دوست دی، چې د روس او عثماني جګړې په ترځ کې یې خدمت کړی او د اعلیحضرت امپراتور ډېر د پاملرنې وړ دی او تل یې دده په حق پېرزوینه کړې ده. جنرال استولیتوف به زما له پټو خیالاتو څخه تاسې ته خبر درکړي. هیله لرم چې جناب نواب عالي به د هغه په هکله پوره پاملرنه وکړي او د هغه خبرې کټ مټ زما خبرې وګڼئ او وروسته تر پوره او کره مطالعې او څېړنې ورته ځواب ورکړئ. دا ټکی هم غواړم درته روښانه کړم، چې د روس له دولت سره ستاسې دوستي دواړو خواوو ته ګټوره ده او ستاسې د دوستۍ پایلې به ډېر ژر را څرګندې شي. دغه د دوستۍ

لیك د ترکستان عمومي حاکم جنرال اجودان او ن. کافمان له تاشکند څخه تاسې ته لیکلی دی (فی شهر جمادی الاخر - ۱۲۹۵ هجری).

امیرشیرعلي خان د ۱۸۷۸ کال د اګست د ۲۲مې نېټې د لیك په ترځ کې کافمان ته داسې ولیکل: «د اعلیحضرت امپراتور استازی استولیتوف تر مشرۍ لاندې کابل ته راغلل او په لومړۍ کتنه کې یې ستاسې دوستانه لیك، چې له تاشکند څخه مو راته لیکلی و، راورساوه. په هغه کې لیکل شوي تول ټکیو څخه ښه خبر شوم همدارنګه هغه څه مو، چې د اعلیحضرت امپراتور امین (امانت کار) جنرال ته ویلي وو، چې په شفاهي توګه یې راته ووایئ هم خبر شوم. دغه جنرال د افغانستان دولت او د امپراتور د دولت تر منځ د یووالي او دوستۍ د محض زیاتوالی شفاهي مطالب هم په لیکلې توګه راکړل. ستاسې د مطلب ځواب مې تول جنرال ته ووایه، چې هغه به یې په خپله په شفاهي توګه تاسې ته ووایي. څو ورځې وروسته به جنرال تاشکند ته در ورسېږي او له هر پلوه به تاسې خبر کړي.

د بریالي جنرال استولیتوف د درناوي لپاره مې میرزا محمد حسن خان او غلام حیدرخان خپل پیشخدمان هم وګومارل، چې هغه بدرګه کړي.»

په هر حال، امیر شیرعلي خان له استولیتوف سره د خبرو په پایله کې د تړون په هغه مسوده باندې توافق وښود، چې روسیې د هغې ژمنه کړې وه او د هغې له مخې که چېرې دښمن پر افغانستان برید کوي او افغانستان له روسیې څخه هیله وکړي، نو د دښمن په دفاع کې به مرسته کوي. همدا رنګه د سوداګریزو اړیکو کلکوالی او د دولتین تر منځ دوستي او په صنایعو کې د افغاني محصلانو د روزنې په برخه کې آسانتیاوې په دغه مسوده کې راغلې وې او د افغانستان په لګښت سره د روسیې مهماتو او وسلې څخه د انګرېز په وړاندې د کار اخیستو ژمنه هم شوې ده. جنرال استولیتوف د قرارداد له مسودې سره یو ځای روسیې ته ولاړ، چې هلته د روس امپراتور هغه لاسلیك کړي. هغوی د ۱۸۷۸م. کال د سپتمبر په ۲۱مه د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر (شاه محمود خان) ته داسې ولیکل:

«... شپه او ورځ په دې لټه کې یم، چې خپل قرارداد (تړون) مجرا کړم... انشاءالله د خدای(ج) په مرسته به لازمه مطالب د امپراتور په لاسلیك راورسېږي. داسې هیله لرم، چې هغه کسان چې غواړي له ختیزې دروازې څخه کابل ته ننوځي (انګرېزان) نو دروازه وتړئ. د الله په مرسته به له ماتې سره مخامخ شئ...»

امیر شیرعلي خان، چې لکه د ختیځ د یوه شوالیه په شان د روسیې د دولت د دغو وعدو په وړکولو سره وغولول شو. په پوره ډاډ یې ژوند تېر او، خو د اروپایي هېوادونو د سیاست له ماهیت څخه نه و خبر.

په داسې حال کې، چې د ۱۸۷۸ په جولای کې د برلین کنګرې په اروپا کې سوله ډاډمنه کړې وه او په اروپا کې هغې جګړې، چې روسان یې ګواښل او هغوی یې افغانستان ته په مخ اړولو مجبور کړي وو، نور هغه ګواښ له منځه تللی و او روسانو نور افغانستان ته اړتیا نه درلوده. په دې توګه روسان په سره سینه له افغانستان څخه بېرته پښې سپکې کړې او یو ځل بیا د انګرېزانو تر بریدونو لاندې د دغه هېواد د نړېدلو یو نندارچي شو. امیرشیرعلي خان هم د خپلې خوشباورۍ او په پردیو باندې د ډډې لګولو سزا ولیده. امیرشیرعلي خان دوه میاشتې وروسته د برلین له کنګرې څخه په دې خبر شو، چې انګرېزان

غواړي پر افغانستان باندې برید وکړي، نو ځکه د روسانو په پخوانیو ژمنو باندې په باور سره یې ډېر ژر پام روسیې ته واړاوه او د هماغه کال په اکتوبر کې یې کافمان استولیتوف او د روسیې امپراتور ته لېږونه واستول. امیرشیرعلي خان کافمان ته په لیک کې داسې ویلي وو: ... دښمن (انګلس) د افغانستان پولو او د خیبر د غابني سرته راغلی. هغوی د خپل یرغل ټول وسایل بشپړ چمتو کړي دي او ډېر ژر به راورسېږي. نور نو کار له زمانه سازۍ څخه تېر شوی دی په ځرګنده سره هغوی زمونږ پر هېواد برید کړي، نو د افغاني چارواکو دنده همدا ده، چې د خپل وس په اندازه د هېواد د وګړو ساتنه وکړي. نو هېڅ امکان نه لري، چې د دښمنۍ اور په آسانه مړ شي بې له شکه. چې وروسته ددغه کاغذ له رسېدلو څخه ځنډ مه کوئ او خبر به شئ، چې افغانانو او انګرېزانو به جګړه پیل کړې وي ځرنګه چې زه تاسې سره په دوستۍ باندې باور لرم. نو ډاډه یم چې په دې برخه کې به خپلې مرستې ونه سپموئ ځرنګه، چې تاسې غوره بولئ ما سره به مرسته وکړئ.

امیرشیرعلي خان په هغه لیک کې، چې امپراتور ته یې لېږلی و داسې لیکلي وو: ... له هغې ورځې راهیسې، چې د افغانستان او د روسیې د پیاوړي دولت تر منځ د دوستۍ دروازه پرانیستل شوې ده او د دواړو تر منځ د یووالي مکاتبات لېږل او رالېږل شوي دي. د انګلیس دولت صاحب منصبان خوربدلي دي او د افغانستان دولت ته یې مزاحمت او ستونزې پیدا کړي دي او هغه کارونه کوي، چې له کاوندیتوب سره نه ښایي. لا د حیلې او چل اور نه و غلی شوی، چې ستاسې اعلیحضرت سفیر کابل ته راغی دا هم د دوی د دښمنۍ د زیاتېدو لامل شو. یعنې ستاسې د استازي له راتګ څخه وروسته یې مونږ سره دښمني پیل کړي. په پټه او ښکاره بد چلند کوي او هره هغه دښمني یې، چې له لاسه پوره وه ههغه یې وکړه. انګرېزانو لومړی یوه ځواکمنه ډله جمرود ته، چې زمونږ پولو سره پرته ده د سفارت په نوګه راواستله ډېل یې، چې دغه سپاره د سفیر ملګري دي. دوی غوښتل پرته زمونږ له اجازې څخه د هېواد پلازمېنې ته راشي، په پټه یې دا خیال و. چې کابل ته راشي او سفیر ته کنځلې وکړي، خو په پولو کې زمونږ صاحب منصبانو د هغوی مخه ونیوله پرې یې نه ښودل، چې وړاندې راشي، او هغوی ته یې وویل، چې دوستي په زور نه کېږي. په هېڅ هېواد کې داسې نه دي شوي، چې یو سفیر له ډېرو خلکو سره یو بل هېواد ته په سفارت ورشي. نو هغوی اړ شول، چې بېرته پېښور ته ستانه شي او اوس په بېړه لګیا دي او ځان چمتو کوي، چې پر افغانستان برید وکړي او د جګړې اعلانونه یې کړي او غواړي، چې د افغانستان پاچاهي ونړوي. سره له دې هم تر اوسه افغان چارواکو هېڅ داسې څه نه دي کړي، چې د دوستۍ برخلاف وي او نه غواړي، چې له انګرېزانو څخه مخکې دوی کوم داسې حرکت وکړي، چې مناسب نه وي احتیاط به له لاسه ورنه کړو. خو دا هم ځرګنده ده. چې څومره که مونږ ځان غلی نیسو، د هغوی د دښمنۍ غرور لا پسې زیاتېږي. د انګلیس د دولت او د افغانستان د حالت د اوس او څلوېښت کاله مخکې تر منځ هېڅ توپیر نشته. یعنې هغه وخت هم د روسیې د پیاوړي دولت پر سفیر او له بلې خوا د انګرېز له لوري یو استازی افغانستان ته راغلی و. مرحوم امیر دوست محمد خان د خپلې پوهې له مخې د انګرېزانو په پرتله له امپراتور اعلیحضرت سره دوستي غوره بللې وه، خو پایله یې ستونزې او

بلاوې شوې، چې د افغانستان پر سر راغلې. لنډه دا، چې د انګرېزانو دولت هوډ کړی، چې مونږ سره جګړه وکړي او د افغانستان رعیت هم تر څو وس لري خپل ځان مال او وطن به د هغوی له شر څخه ساتي... هیله لرم، چې د افغانستان د هوساینې لپاره ستاسې اعلیحضرت د خپل پرتم په اندازه مونږ سره مرسته وکړئ او ډاډه یم، چې په دې وخت کې به خپلې ملوکانه پیروزینې ونه سپموئ.

امیر شیرعلي خان استولیتوف ته په خپل لیک کې داسې لیکلي وو: "... کله چې تاسې په کابل کې واست د افغانستان په اړه د انګرېزانو بد نیت او فاسدو خیالاتو څخه خبر شوئ. له هغه مهاله، چې تاسې تاشکند ته تللي یاست، د دوی بدخواهي زمونږ په وړاندې ورځ په ورځ زیاته شوې ده... څه موده کېږي، چې ستاسې له لوري خبر نه دی رارسېدلی، کارونه نور د زغېدو وړ نه دي، جګړه هرومرو پېښېدونکې ده. انګرېزانو د تیري لاس راغځولی... هیله لرم، چې د دوستۍ او یووالي له لارې لګه هڅسې، چې د امپراتور پرتم او د اعلیحضرت د مقام او عظمت سره ښایي له ما سره مرسته وکړئ."

له هغه مهاله، چې انګرېزان د افغانستان په لوري را روان شول. امیر له هماغې ورځې (د ۱۸۷۸ د نوامبر له ۲۱مې څخه) بیا د کابل تر پرېښودلو (د ۱۸۷۸ د دسمبر تر ۲۲مې) پورې او بیا له بلخ څخه د خپلې مړینې تر ورځې (د ۱۸۷۸ د فروري ۲۱مې) پورې ددغو لیکنو لړۍ نه پرېښوده.

د بېلګې په توګه هغه د دسمبر په اتمه کافمان ته ولیکل، چې: "د هغې ژمنې له مخې، چې استولیتوف د امپراتور له لوري کړې ده، هیله لرم، چې مونږ سره نظامي مرسته وکړئ همدا رنګه په کابل کې مې د روس سفیر جنرال روزګن اوف ته اجازه ورکړه، چې تاشکند ته ستون شي." (دغه سړی کافمن د نوامبر د میاشتې په یوه لیک کې تاشکند ته غوښتل شوی و) همدا رنګه امیرشیرعلي خان د دسمبر په ۲۲مه نېټه لیک کافمان ته لیکلی و، چې: "سردار محمدیعقوب خان مې نایب السلطنت وټاکه او په خپله پتروګراد ته د سفر په موخه او له امپراتور سره د کتنې لپاره روان شو." (امیر غوښتل، چې په پتروګراو کې په یوه نړېوال کانګرس کې د افغانستان او انګلیس پېښه مطرح کړي." دې پسې وروسته امیر له مزار څخه د فروري په دوهمه نېټه لیک کې کافمان ته ولیکل: "غوښتل مې روسیې ته راشم... د لارې په اوږدو کې په نزله ناروغۍ او د ملا په خوږ اخته شوم او اوس بستري یم، زما درملنه روسي حکیم (طبیب) او زما خپل طبیبان کوي، ستاسې سفیر ته مې د بېرته درتګ اجازه ورکړه او خپل یو هیئت مې هم در واستاوه، چې د هېواد جریانات درته ووایي. هغه ژمنې، چې تاسې په خپلو لیکونو کې ما سره کړې وې او زه مو ډاډه کړی وم، چې انګرېزان به زمونږ په خپلواکۍ کار نه لري او د لندن حکومت د روس سفیر ته دا تعهد ورکړی و، چې مداخله به نه کوي، خو بیا هم دا دی انګرېزان وړاندې راغلل."

امپراتور جنرال استولیتوف کوم ځواب ورنه کړ، خو کافمان په ۱۸۷۸ د نوامبر په څلورمه نېټه لیک کې داسې ځواب ورکړ: "... ما په رښتیا سره اورېدلي دي، چې انګرېزان غواړي تاسې سره سوله وکړي. زه د دوستۍ له لارې تاسې ته وایم، چې که هغوی د سولې غوښتنه وکړي، تاسې بې له ځنډه سوله وکړئ."

کافمان د نوامبر په ۲۶مه نېټه لیک کې ورته ولیکل، چې: "د انګلیس کابینې د روس سفیر ته ډاډ ورکړی، چې د افغانستان په خپلواکۍ تیری نه کوي. نو ځکه لازمه نه بولم، چې ستاسې نوکران محمد

Scanned by CamScanner

حسن خان او غلام حیدر خان دلته واوسي. نو هغوی مې خپلو دوو صاحب منصبانو سره در ولېږل.
کافمان روزګن اوف ته، چې په کابل کې د روس سفیر و د نوامبر په میاشت کې ولیکل: امیر ته څرګنده
دړ، چې په دغه ژمي کې نه شم کولای، له لښکر سره له هغوی سره مرسته وکړم. نو ښه خبره ده، چې
جګړه وځنډوئ. هیڅ ضرور نه ده، چې په دغه بې وخته فصل کې جګړه پیل کړئ. که چېرې انګلیس د
امیر له هځو سره جګړه پیل کړه، تاسې له امیر څخه اجازه واخلئ تاشکند ته راشئ. (یعني د
افغانستان استازي بې له تاشکند څخه راولېږل او خپل سفیر یې تاشکند ته احضار کړ او په دې توګه
بې د سیاسي اړیکو پرې کول اعلان کړل.) کافمان د ۱۸۷۹ کال د جنوري په لیک کې امیرشیرعلي خان
ته ولیکل: ... د اعلیحضرت امپراتور له خوا ماته یو لیک رارسېدلی. چې تاسو ته خبر درکړم. چې اوس
مونږ ته ممکن نه ده، چې تاسې سره نظامي مرسته وکړم ... ډېره اړینه ده. چې جنرال روزګن اوف او د هغه
ملګري (په کابل کې د روس د سفارت هیئت) دېر ژر راستانه کړئ. که چېرې غواړئ ډاکتر یورالسکي
خان سره وساتئ...

کافمان د ۱۸۷۹ د جنوري په اوومه امیر ته ولیکل: "... زه بیا تاسې څخه هیله کوم، چې له خپل هېواد
څخه مه وځئ او له انګرېزانو سره جوړ جاړی وکړئ ... د روس خاورې ته ستاسې راتګ ددې لامل کېږي،
چې ستونزې لا زیاتې شي."(۱)

د امیر شیرعلي خان له مړینې وروسته یو ځل بیا روسانو له امیر څخه محمد یعقوب خان سره د لیکونو
لړۍ وساتله او د سردار محمد موسی خان ولایت عهدي یې تصدیق کړه. یواځې دا نه، بلکې هغه
لیکونه، چې د انګرېزي مامورینو تر منځ تبادله شوي دي او په دې کې یو د ۱۸۷۰ د اکتوبر د پینځمې
نېټې هغه لیکونه دي، چې په روسیه کې د انګلیس د سفیر نایب مستر پلن کت د انګلیس د بهرنیو
چارو وزیر لارد ګرانویل ته استولي دي. ښکاري، چې د روس زار جنرال کافمان له امیر محمد یعقوب
خان (د افغانستان نوي امیر) سره د لیکونو له لېږلو منع کړي او وایي، چې هغه ځوابونه چې کافمان یې
افغاني شهزاده ګانو ته ورکوي باید د انګلیس د بهرنیو چارو وزارت ته هم واستول شي. همدا رنګه د
۱۸۸۱ کال د جنوري د ۲۸ مې نېټې له لیك څخه، چې ګرانویل په روسیه کې د انګلیس سفیر دفرین ته
استولی، ښکاري چې په لندن کې د روس سفیر پرنس لوبانو د انګلیس د بهرنیو چارو وزیر ته ویلي وو.
چې استولیتوف روسیې ته په بېرته راتګ سره ولیدل، چې د اروپا وضعیت بدل شوی دی (د برلین تړون
لاسلیك شوی و) نو ځکه یې هغه تړون همدا اسې پرېښود کوم، چې ده له امیر شیرعلي خان سره لاسیك
کړی و، نو ځکه د امیر ټولې غوښتنې بې ځوابه پاتې شوې. د روس سفیر د انګلیسانو ددې پوښتنې په
ځواب کې، چې څو تنه روسي صاحب منصبان له یو څو تنو نورو سره، چې د روس په پوځ کې روزل شوي
دي، د سردار محمد ایوب خان پوځ کې د هغوی د روزنې لپاره دي؟ وویل، چې: دا دروغ دي، جنرال
کافمان وایي، چې دا د سیاست او تدبیر خلاف خبره ده، چې نیم روزل شوي وحشي اسیایي ملتونه مونږ

---

۱. سید مهدي فرخ ټول دغه لیکونه، چې د امیر شیرعلي خان او کافمان تر منځ استول را استول شوي دي، په خپل کتاب (تاریخ سیاسي افغانستان) کې راوړي دي، چې باید په ډېر احتیاط سره وکتل شي.

Scanned by CamScanner

د خان په شان وروزو. دا خکه کله، چې که د هغوی پوخ پوه وي، نو اول خپل ښوونکي سره مدعي کېږي او که په کوم فرنګي هېواد بري ومومي، زړور کېږي او نورو اروپایي هېوادونو باندې برید کوي. د ۱۸۸۱م. کال د فروري د نهمې نېټې په لیک کې ګرانویل دوفرین ته لیکلي وو، چې په لندن کې د روس لوی سفیر د انګلیس د بهرنیو چارو وزیر ته ویلي وو، چې له هغه مهال څخه وروسته، چې د برلین تړون لاسلیك شوی دی، کافمان تل په هر لیك کې امیرشیرعلي خان ته ددې نصیحت کاوه، چې د انګلستان دولت سره په یو رقم سره جوړ جاړی وکړي او سوله دې وساتي.

د روس دولت وروسته تر دغو دوستانه پېښو څخه د ۱۸۸۴ کال د فروري په ۱۴مه د مروې یو خای کول له خپل هېواد سره، چې د افغانستان یو تاریخي ولایت و، اعلان کړل او په لندن کې د دوی سفیر ګرانویل د دغه یو خای کولو دلیل داسې ښودلی و: انګلیسي او روسي سیاستوال تل تاکید کوي، چې هغوی متمدنو خواکونو ته، چې نږدې غیر متمدن ګاونډیان لري، ډېره ستونزمنه ده، چې د خپل قلمرو په پراختیا کې هڅه ونه کړي. له هغه څخه وروسته روسانو په ۱۸۸۵ کې په ذوالفقار، آن رباط او پنجده باندې بریدونه وکړل او ویې نیول. لکه څرنګه، چې د افغانستان د بهرنی سیاست له تاریخ او د انګرېزانو او روسانو له سیالیو څخه ښکاري (د اشتراکیه روسیې د مورخینو لکه ریسنر او پروفېسر کریازني) داسې څرګندېږي، چې په ۱۸۸۷ کې دریېم الکساندر شخصاً په خپله جنرال ګروبیچوفسکي وګوماره، چې د بلخ افغاني والي سردار محمد اسحق خان سره پټې اړیکې ټینګې کړي او هغه د امیر عبدالرحمن خان د دولت په ضد ولمسوي. دغه جنرال له تاشکند څخه له سردار سره اړیکې ټینګې کړې او هغه ته یې لس زره روسي توپکونه، یو میلیون دانې کارتوسونه او سل زره روبله ورکړل. سردار پاخون وکړ، خو ناکام شو. د روس د دولت دغه لاسوهنې د لومړي خل لپاره د جنرال ګربیچوفسکي له هغه کتاب څخه، چې (د روسیې په خدمت کې) نومېږي او په ۱۹۲۲م. کال کې په وارسا کې په لهستاني ژبه چاپ شوي دي، ښکاره کېږي. خو کاله وروسته د روس دولت په ۱۸۹۳ کې د ایوانوف په خواکونو سره په افغاني پامیر کې په افغاني ګزمه باندې یرغل وکړ. هغه مهال، چې انګرېزان په افریقا کې له زړورو (بوئر) قبایلو سره په جګړه کې اخته وو روسي دولت یو خل بیا افغانستان ته په دې نامه مراجعه وکړه، چې سوداګریزې مسئلې وڅېړي، خو دا خل امیر عبدالرحمن خان، چې په افغانستان کې یې د زاري روسیې د سیاست په هکله پوره تجربه پیدا کړې وه، د روس د دولت وړاندیزونه ونه منل. روسانو د شلمې پېړۍ په پیل کې آن پر هند باندې د یوې غوړېدلي نقشې له عملي کولو ډډه وکړه او د جاپان په وړاندې له ماتې څخه وروسته یې له خپل نامتو سیال انګرېز سره په ۱۹۰۷ کې یو تړون لاسلیك کړ او دا یې ومنله، چې افغانستان د روسیې له نفوذ څخه بهر دی او روسیه به افغانستان ته هېڅ یو استازی وانه ستوي او د افغانستان په اړه سیاسي چارو کې به د انګلستان له طریقه معامله کوي. په دغه تړون کې دا ویل شوي دي، چې د دغه قرارداد عملي کول به د افغانستان د پاچا له تائید څخه وروسته کېږي. ډېر د تعجب خای دا دی، چې د افغانستان پاچا امیر حبیب الله دغه تړون تائید نه کړ او هغه یې رد کړ، نو کله روس دولت د انګرېزانو په وړاندې دا ومنله، چې د روس دولت به د افغانستان د امیر له تائید

دغه پرته دغه تړون اجرا کوي. د زاري روسيې د دولت د دغه چلند په اړه، چې افغانستان سره يې وکړ
اکرام کې پيکولين په خپل کتاب (افغانستان-اقتصادي انځور) کې، چې د ازبکستان د علومو
اکاډيمي په ۱۹۵۲م کال کې په تاشکند کې چاپ کړی دی. ليکي:
د روسيې (د زاري دولت) هدف دا و، چې د بريتانيا او روسيې تر منځ يو پياوړی دولت وي. نه په
افغانستان کې نفوذ لرل. بې طرفه لوستونکي په شك کې اچوي.
کله، چې د روس زاري امپراتوري وپرځېده. بلشويك انقلابي دولت د انګرېز او زاري دولت د بهرنيو
چارو د وزارت خائنانه اسرار په دې توګه افشا کړل:
د ۱۹۱۵ د فروري د نولسمې نېټې ائتلاف ليك: "د انګليس او فرانسې سفيرانو ته د روس د بهرنيو
چارو د وزير د ليك له مخې وروسته تر جګړې څخه لاندينۍ سيمې روسانو ته په پام کې نيول شوې دي
اول د اسلامبول ښار، د بوسفور لويديزې غاړې، د مرمره سيند، جنوبي ترکيه. د بوسفوردو او د سکريه
سيمې، د ازمير د خليج غاړه او مرمره ټاپوګان او نور.
دوهم: د عربستان اسلامي ځايونه به د يوه خپلواك اسلامي حکومت په لاس کې وي.
دريېم: د ۱۹۰۷ کال د تړون له مخې د ايران بې طرفه سيمه به وروسته تر دې د انګليس تر نفوذ لاندې
سيمه وي.
څلورم: روسيې د يزد او د اصفهان د نيولو هيله هم کړې ده.
پنځم: روسيې هيله وکړه، چې د افغانستان او روس تر منځ به ذوالفقار روسيې ته ور پرېښودل شي او د
افغانستان مسئله به د روس او انګليس د ۱۹۱۴ کال له خبرو سره سم حل شي. وروسته تر هغه، چې د
افغانستان سياسي اړيکې له زاري روسيې سره پرې شوې. د افغانانو په وړاندې د زاري روسيې د
سرحدي افسرانو چلند له تاو تريخوالي ډك شو. د بېلګې په توګه د ۱۸۸۴ کال په ترڅ کې، چې کله
پولې ټاکل کېدلې، يوه روس کلنل د هريرود د خاتون پله ته رسېدلی و او هغه د غونډې په ترڅ کې
افغاني جنرال غوث الدين خان ته د درواغجن او ډارن خطاب وکړ. جنرال بېرته په همدغو دوو کلماتو
هغه ته خطاب وکړ او غل يې هم لا ورته وويل. همدا رنګه د سرحدونو د ټاکلو په پيل کې روسي ځواك د
غند او شاخدرې له لارې شغنان ته واستول شول، يوه کوچنۍ دوه سوه کسيزه افغاني قطعه د کميدان
تيمورشاه او کپتان مير اسلم تر قوماندې لاندې د سرپل په کلا کې پراته وو. دوی ته د بدخشان جنرال
سيدشاه خان امر کړی و، چې له روسانو سره د هر ډول سرحدي لانجې څخه ځان وساتي، خو يو ناڅاپه
بړد د روسانو پلي او سپره قطعه سرپل ته راورسېده او ډزې يې پيل کړې، خو له دې لامله، چې ځوابيه
ډزې ورباندې ونه شوې بېرته وګرځېدل او د پنج د سيند غاړې ته د ريوك کلي ته ولاړل. روسي افسر له
هغه ځايه افغاني افسرانو ته په دې توګه يو ليك راواستاوه: په خدای(؟) چې د ډېر لوړ دريځ کپتان
ياست، روغتيا او سلامتي دې وي پر امير عبدالرحمن خان(!) وروسته سلام پر امير اسلام خان او ټولو
مشرانو ته د رناوی له طرفه د طور. وروسته تر سلام دا، چې لکه چې کپتان ته به معلومه وي، چې له
روشان څخه تر شغنان پورې زمونږ سيمه ده او د افغانستان او روس تر منځ پوله ټاکل کېږي. د پنج له
سيند څخه دا خواته زمونږ سيمه ده دا ځکه چې مونږ بيوردغ لرو، چې هغه زمونږ ملك دی. مونږ تاسو ته

Scanned by CamScanner

ځرګندوو، چې خپل پوځ له دې ځایه ولېږدوئ او د پنجه کلا ته ولاړ شئ، ځکه چې مونږ لیکنه کړې او دا سید شاه خان جنریل ته معلومه ده او تاسې باید ډېر ژر له دې ځایه پنجه کلا ته ولاړ شئ. زمونږ فرمایش همدا دی، باید یو د بل وینې تویې نه کړو او زمونږ او تاسې تر منځ باید وینه تویول نه وي، دا ځکه چې وینې ونه بهېږي، نو یو د بل دوستان کېږو او تلپاتې دوستان کېږو، ځکه چې راق پادشاه (سپین پاچا یعنې زار) مونږ دلاسا کوي او مونږ هم تاسې دلاسا کوو.

باید زمونږ ددغه کاغذ ځواب همدا نن را ورسېږي. البته له دغې ورځې به نه اوړي.(۱)

روسي افسرانو څو څو ځله دغه ډول کاغذونه افغاني افسرانو ته را ولېږل او هم یې ګواښ وکړ، چې پر افغاني ساتونکو به ډزې وکړي. البته د سرحدونو له ټاکلو وروسته له ذوالفقار څخه ترسر کول پورې سرحد وټاکل شو، سره له دې، چې افغانستان پنجده او مرو له لاسه ورکړل، خو بیا هم د زاري دولت له شر څخه خلاص شو او د سیاسي اړیکو پرې کېدو هم افغانستان د زاري دولت له دسیسو څخه وساته. دغه منفي چلند د افغانستان او روس تر منځ د اکتوبر تر انقلاب (۱۹۱۷) پورې روان و. د روس وګړو سوسیالستي انقلاب او د شوروي دولت رامنځته کېدو څخه وروسته د زاري روس ټول سیاستونه هم دننه په روسیه کې، هم په آسیا کې او هم په ټول نړیوال سیاست کې په عمومي توګه له ریښې څخه بدلون ومونده. شوروي اتحاد د ختیځو ملتونو مبارزه د غربي استعمار په ضد حمایه کوله، ددغو هېواد خپلواکۍ او پرمختیایي د اروپایي ښکېلاك په وړاندې د یوې سیاسي فتح په توګه پېژندله. همدا رنګه شوروي اتحاد ددغو هېوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنې څخه ډډه کوله. ایران د همدې سیاست په رڼا کې خپله خپلواکي ترلاسه کړه. شوروي اتحاد ټول ختیځ ته او په تیره ترکیې، عربو هند او ایران ته خپله بیساري او تاریخي یادداشت اعلان کړ او د زاري روس ټول پټ تړونونه یې باطل کړل، چې د هغو له مخې ترکیه او ایران تجزیه کېدل. شوروي اتحاد د نه تیري د سیاست له مخې له ختیځ سره خپل ملګرتوب غوښت شوروي اتحاد هغه تړونونه، چې له ترکیې او افغانستان سره وکړل د ټولو ختیځو ملتونو خپلواکي یې په رسمیت وپېژندله او ملي آزادي غوښتونکي غورځنګونه یې په رسمیت وپېژندل او د دوی واك یې د هر هغه ډول حکومت په ټاکلو کې تائید اومانه، چې دوی یې خپله غوښتونکي و. د شوروي اتحاد د دغه چلند تطبیق په خپله شوروي اتحاد ته هم یو لوی بریالیتوب و. وروسته بیا د شوروي اتحاد چلند او له ختیځو هېوادونو سره د دوی د تړونونو لاسلیك کېدل له هر ډول تبلیغاتي مقاصدو څخه تش و. البته د شوروي اتحاد دغه سیاست د ختیځو هېوادونو د سیاست او د دوی د ملي آزادي غوښتونکو غورځنګونو په ګټه هم و. دغه د نه تیري سیاست او له ملي آزادي بخښونکو غورځنګونو څخه د شوروي اتحاد د ملاتړ دغه هېوادونو ته ګټه هم ورسوله. افغانستان د شوروي اتحاد د تر ټولو نږدې ګاونډي هېواد و، چې تر ټولو مخکې یې د شوروي اتحاد خپلواکي په رسمیت وپېژندله او همدا رنګه شوروي اتحاد هغه بهرنی لومړنی هېواد و، چې له نورو مخکې یې د افغانستان استقلال په رسمیت وپېژاند.

---

۱- سراج التواریخ، دریم ټوك- ۱۰۲۴ مخ

## د ایران دولت او افغانستان

قاجاریان په اصل کې د (آت قویونلو) له ترکمانانو څخه او ایران ته د ورغلیو ناقلینو له ډلې څخه وو، چې د امیر تیمور ګورګان په لاس هلته بوتلل شوي وو. دوی وروسته بیا د ایران قاجاري دولت جوړ کړ. د دغه دولت بنسټ ایښودونکی آقا محمد قاجار و چې توند او ظالم، خونبه کار پوه او د ارادې لرونکی سړی و، سره له دې، چې هغه د کرمان خلك ړانده. ګرجستانیان یې ووژل او افغاني خراسان ولایت یې لوټ کړ، خو سره له دې یې هم وکولای شول، چې د نادرشاه خراساني له مړینې وروسته ملوك الطوایفي له منځه یوسي او د کریم خان زند څخه وروسته راغلې سیاسي ګډوډي سمه او په ایران کې سیاسي وحدت راولي. دغه سړي افغانستان ته هیڅ ښه نظر نه درلود. دا ځکه چې ده غوښتل، چې خراسان تر نیول واك لاندې راولي. د آقا محمد خان ناستي د ایران خلکو او ګاونډیو ته ډېر زیانونه واړول. د بېلګې په توګه فتح علي شاه، چې له ۱۷۹۷ څخه تر ۱۸۳۴ پورې یې په اوږده موده کې د ایران واکمن و، څو ځله یې له روسانو څخه ماتې وخوړه او هغوی سره یې د ګلستان او ترکمانچای تړون لاسلیك کړ او د ګرجستان، دربند، باکو، شیروال، ګنجه، قره باغ، ایروان، نخجوان او نورې سیمې یې د جګړې له تاوان سره یو ځای د روس دولت ته ورکړل. یواځې دا نه بلکې فتح علي (د قونسلي قضاوت د حق) یې هم د ایران د دولت په غاړه کې واچاوه او د هېواد له بشپړې خپلواکۍ څخه تېر شو. تر څو چې د ایران خلك په غوسه شول او په تهران کې یې د زاري روسیې سفیر ګري بایدوف مړ کړ او په کرمان، یزد او نورو سیمو کې د دولت په ضد پاڅېدل. نور نو د ایران دولت د نړیوال سیاست په ډګر کې یواځې یوه دلوبو ناڅکه وه. چې روس، فرانسې، او انګرېزانو هر یوه د خپلو ګټو سره سم په قاجاریانو باندې لوبې کولې او د ایران سیاست د اوبو په شان، چې هر لوښي ته اچول کېده د هغه لوښي بڼه یې غوره کړله. په ۱۸۰۰ م کال کې د انګرېزي دولت یو استازی (سرجان ملکم) تهران ته ورغی. د ایران دربار د انګلیس د ښه راغلاست لپاره فرانسویانو ته، چې دوی ته ګټور و، وویل: که ناپلیون هم تهران ته راشي د قبله عالم، ته به د حضور اجازه ورنه کړل شي (دغه د عالم قبله فتح علي شاه و)، ددې پر ځای یې له انګرېزانو سره سیاسي او سوداګریز تړونونه لاسیك کړل. سیاسي تړون یې پېنځه مادې درلودې، چې په هغو کې د افغانستان په اړه داسې ویل شوي وو:

دوهمه ماده: که چېرې د افغانستان پاچا په هند باندې د برید هوډ وکړي، د ایران پاچا به د غره په شان پر بوخ افغانستان ته لېږي، چې دغه هېواد ویجاړ او وران کړي او پوره هڅه به وکړي، چې دغه هېواد بشپړ له منځه یوسي.

دریمه ماده: که چېرې افغانستان سولې ته تمایل ولري، نو ایران به دا شرط هم د سولې په شرطونو کې ورته ووایي، چې د افغانستان پاچا (زمانشاه) به د تل لپاره په هند باندې د برید خیال له سره وباسي.

څلورمه ماده: که چېرې د افغانستان پاچا د ایران له دولت سره په جګړه اخته کېږي، نو د انګلیس دولت به څومره وسلې، توپ، شړیو او مهماتو ته، چې اړتیاوې، ایران ته به یې ورکوي، خو فتح علي شاه له دې

Scanned by CamScanner

له ناپیلیون سره یې یو د شپاړسو مادو لرونکی تړون د
څخه شپږ کاله وروسته، چې له فرانسې سره مخ شو، په ۱۸۰۷ په مې میاشت کې، لاسلیک کړ. چې په هغه کې ویل شوي و:
چې خپلې سیاسي او سوداګریزې اړیکې به له انګریزانو سره پرې کوي او دېر
اتمه ماده: ایران ژمن دی، چې افغانان به د انګریزانو په
ژر به جګړه ورسره اعلانوي. په لسمه ماده کې فتح علي شاه ژمنه کړې وه، چې فرانسوي جنرال
وړاندې یو موټی کوي او پر هندوستان به یرغل کوي. د همدې تړون له مخې و. چې
کاردان ایران ته راغی او یو څه کارونه یې ورته ترسره کړل. خو فتح علي شاه هغه ډېر ژر له ایران څخه
وایست، پر ځای یې بیا له انګریزانو سره په ۱۲ مادو کې بل نوی تړون لاسلیک کړ (د ۱۸۱۲ مارچ)
د دغه تړون په لومړۍ ماده کې ایران خپل ټول هغه تړونونه منسوخ کړل. چې له نورو اورپايي هېوادونو
سره یې ترسره کړي وو. په دوهمه او دریمه ماده کې یې انګلیس ژمنه کړې وه. چې د بهرنیو هېوادو په
وړاندې به په پوخ او پیسو سره له ایران څخه ساتنه کوي. په پنځمه ماده کې ایران منلې وه. چې له
افغانستان سره به د انګلیس د جګړې په مهال له انګلیس سره مرسته کوي. په شپږمه ماده کې ویل
شوي وو. چې که چېرې د ایران او افغانستان تر منځ جګړه ونښلي، نو انګلیس به بې طرفه پاتې شي.
همدا رنګه فتح علي شاه، چې په تهران کې د تزاري روس د لاس نانځکه شوې وه، یو ځل د هغه دولت په
اشاره پر هرات هم یرغل وکړ، خو د افغانستان خلکو دغه یرغل په شا وتمباوه او د ایران د ولیعهد
عباس مرزا زوی محمد مرزا یې له هرات څخه ایران ته وځغلاوه. ایران له خپلې دغه ډول دولتي بې حاله
او کاواکه دستګاه سره په خپلو خلکو درووند مالي بار اچولی و او خلک یې له بې شمېره مادي او معنوي
زیانونو سره مخامخ کړي وو. حال دا چې په خپله د ایران دربار او اشراف له پردیو سره په سازش کولو
سره په بې حده عیاشي کې ډوب و او د نجف او کربلا روحانیونو. چې د ایران په ټولنه کې ښه پوره
اغېزه درلوده خپله ځېره له هندوستان څخه اخیسته. په خپله د ایران پاچا هم د ایران د ډېر کره او پوخ
تاریخ لیکوال محمود محمود په وینا. (چې په ایران کې، چاپ شوي د ایران او انګرېز سیاسي اته ټوکه
تاریخ لیکوال دی)، ۸۰۰ ښځې ۳۰۰ اولادونه او ۵۰۰۰ لمسي او کړوسي درلودل هغه د پاچاهۍ له
مقام سره له بهرنیو سفیرانو سوغاتونو (رشوت)، اخیست. کله به چې له هندوستان یا انګلستان څخه کوم
استازی راته، فتح علي شاه به لا مخکې دا معلومات ترلاسه کول، چې آیا دغه استازی څه شی راوړي.
کله چې په ۱۸۱۲ کې د انګلیس استازی سرګور اوزلي د ایران دربار ته راغی، د خپلو نورو سوغاتونو
په لړ کې یې پاچا ته یوه ګاډۍ هم راوړې وه. فتح علي شاه په ډېره خوشحالۍ په خپله په ګاډۍ کې
کښېناست او د ایران وزیران لکه حاجب الدوله او فرح الله او میرزا حسن شیرازي یې د آسونو پر ځای
وریوري وتړل او هاخوا دا خوا یې وځغلوله او خوند یې ورڅخه واخیست. دا یوا ځې نه بلکې د ایران صدراعظم
مرزا شفیع خان د ګاډۍ له لیدلو څخه هک پک شو. چې څرنګه ګاډۍ هم مخکې او هم شاته تلای شي؟
د ایران د بهرنیو چارو وزیر میرزا ابوالحسن خان په کال کې ۱۵۰۰ تومانه د انګلیس دولت څخه
اخیستل. هغه پوره شل کاله له بهرنیو څخه دغه معاش ترلاسه کاوه او همداسې د ایران نورو وزیرانو
په لندن کې پالمرستن د ایران استازي مرزا حسین ته وویل، چې: د ایران وزیران له روسیې څخه معاش

Scanned by CamScanner

اېلچي او چارې د هغوی په خوښه پر مخ بیایي. د ایران استازي دا ډول خواب ورکړ. که چېرې اعلیحضرت د امپراتور د دولت بهیه په توګه د ایران دولت علیه ته کوم سوغات او انعام کوم نوکر (وزیر) ته ورکوي. زمونږ او تاسو تر منځ د تړون برخلاف نه ده، همداسې د انګرېز دولت بهیه له سلو کالو زیاته موده کېږي، چې میرزا ابوالحسن خان ته یعنې د دولت علیه پخوانی د بهرنیو چارو وزیر ته مواجب (تنخواه) ورکوي او تر نن ورځې پورې دولت په دې برخه کې څه بحث نه دی کړی.[1]

کله، چې فتح علي شاه د ناپلیون فوق العاده سفیر جنرال کاردان د انګلیس د غوښتنې له مخې له ایران څخه وایست. د انګلیس استازي (موریر) یې خپل حضور ته راوغوښت او د ناپلیون په هکله یې د خبرو په ترڅ کې د ایران پاچا قسم وخوړ. چې بنا پارت زما په وسیله دغې درجې او دریځ ته رسېدلی دی[1] که نه د یوه کال په ترڅ کې به له منځه ولاړ شي.[2] په دې توګه ایران د دې ډول پاچا او د هغه ډول وزیرانو په لرلو سره نشو کولای. چې د اروپا د استعماري دولتونو په لاس کې پرته له نانځکې بل شي اوسي. همدا لامل و، چې مهدي علي، د انګلیس نماینده، په ایران کې (۱۷۹۹) په آسانۍ سره وکولای شول، چې د قاجار دولت ډېر ژر د افغانستان په ضد ولمسوي او د سني او شیعه موضوع رامنځته کړي، تر څو زمانشاه ونشي کولای، چې هند د فرنګیانو له استعمار څخه وژغوري.

د فتح علي شاه ځای ناستي محمدشاه، چې د روس او انګلیس د سفیرانو په مرسته د ایران سلطنت ته رسېدلی و، هېواد نور هم د روس او انګرېز د سیاست په ډنډ کې ور ډوب کړ. په تېره بیا د روس په لاس کې د یوې وسیلې په توګه وګرځول شو او په هرات یې برید وکړ، چې هرات ته یې ډېر زیات زیان واړاوه. سره له دې، چې د افغانستان خلکو هغه ته ماتې ورکړه، خو هغه استعماري هدف. چې موخه یې د افغانستان او ایران تر منځ د نفاق پیدا کول و. هغه استعمار ته په لاس ورغی او وروسته بیا ایران، څو ځله په سیستان او هشتادان کې د افغانستان په وړاندې استعمال شو. سره له دې تولو بیا هم د قاجاري دولت همدا بې کفایتي وه، چې د ایران د ویش لامل شوه او نیم یې د انګرېز او نیم د روس د نفوذ سیمه شوه او افغانستان ته یې هم درانه زیانونه واړول. د ایران قاجاري دولت، چې کله خراسان له افغانستان څخه په ۱۸۰۲ کې جلا کړ. بیا یې د نولسمې پېړۍ تر نیمایي پورې (له ۱۸۰۲ څخه تر ۱۸۵۷) یعنې د پنځوسو کالو په موده کې اته ځله پر هرات برید وکړ، چې پرته له یو ځل څخه نور هر ځل له ماتې سره مخامخ شو. په ښکاره توګه د ایران تر ټولو پرتمین پاچا نصرالدین شاه قاجار و. چې نیمه پېړۍ یې پاچاهي وچلوله (۱۸۴۸ - ۱۸۹۷)، په دغه مهال کې ایران د کال ۲۸ میلیونه روپۍ بودیجه درلوده. صادرات یې ۱۸ میلیونه او نفوس اته میلیونه تنه وو. د نصرالدین شاه د پاچاهۍ پر مهال د ایران ملت د استعماري دولتونو د درنو امتیازاتو تر بار لاندې شوی و. د ایران بېړۍ، چلول، تلګرافي کرښې او د ایران نورې سرچینې ټولې د پردیو لاسونو ته ولوېدې او د ایران خلک په تریاکو روږدي شول. د دې ټولو په بدل کې نصرالدین شاه په اروپا کې په تفریح بوخت شو او یو ولس کلن قاجاري ماشوم (عزیز سلطان)

---

۱. محمود. محمود. تاریخ روابط. دوهم ټوک ۳۱۲ مخ.
۲. همدا کتاب. لومړی ټوک. ۷۹ مخ.

Scanned by CamScanner

نصرالدین شاه په ۱۸۵۴ کې روس ته مراجعه وکړه او د روس ته د ایران د فلډ مارشالي رتبه ورکړل شوه. د ۱۸۵۴ کال د سپتمبر په ۲۸مه لاسلیک په طرفداري یې یو څلور فقره یې تړون له تزاري روسیې سره کړ. وروسته یې بیا انګلیس ته مراجعه وکړه. چې له هغه سره په اتحاد کې یو ځای شي خو انګلیس ورته پاملرنه ونه کړه.(۱)

نصرالدین شاه یو ځل پر هرات برید وکړ او حسام السلطنت په تیروتنې سره هرات ته ننوت. خو ایران د انګلیس له جګړې سره مخامخ شو او په پاریس کې د ایران سفیر فرخ د درېیم ناپیلیون په واسطه انګلیس څخه د سولې غوښتنه وکړه او بیا یې له هغه دولت سره د ۱۸۵۷ کال تړون لاسلیک کړ. د همدغه تړون له مخې و. چې ایران د افغانستان او ایران تر منځ په لانجمنو مسایلو کې د انګلیس حکمیت ومانه. کله. چې انګلستان د ایران له پلوه ډاډه شو د ټولو لانجو په پرې کولو کې د افغانستان پر ځای د ایران زړه په لاس کې ونیو او هر څه یې د هغوی په ګټه فیصله کړل او په سیستان او هشتادان کې یې د افغانستان په زیان حکمیت وکړ.

په هر حال. نصرالدین شاه د مروې په جګړو کې د ترکمنانو په وړاندې ماته وخوړه او د ایران پوځ اسیر شو او لکه د مرییانو په شان وپلورل شول. خو افغانانو چې د ایران د ۱۸۸۵ کال تیرې (د کهسان اړوند په هشتادان کې) "ته خواب ووایه او دوی یې وشړل، د انګلیس د حکمیت په پایله کې یې ګټلې جنګ بایلو او د ایوبې سیمه او د هشتادان کاریزونه یې ایران ته ورکړل. یوا ځې یوولس نږدې کاریزونه اصلي خاوند (افغانستان) ته پاتې شول. د افغانستان پاچا امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۸۸ کې د هندوستان وایسرا ته یو لیک واستاوه او په آسیایي او اسلامي هېوادونو کې یې د انګلیس سیاست وراټه او په مرکزي آسیا کې یې د روس د دولت ټینګېدل او په هند باندې یې د هغوی برید او د آسیا نیول او د اروپا ګواښ لاندې راوستل یې له غوره ور تېر کړل او په دې ترڅ کې یې له ایران سره د انګلیس د دوستۍ په اړه داسې ورته ولیکل:

"... په راتلونکي کې د دغو خطرونو په منځ کې په څه شي ډډه لګوئ؟ تاسې د خپل حکومت سلامتیا په هکله فکر کوئ؟ احتمال لري، چې تاسې به د ایران د دولت په اتحاد باندې باور لرئ. سره د هغو ټولو تجربو، چې پخوا مو ترلاسه کړي دي. بیا هم څرنګه امکان لري، چې تاسې بیا داسې یو بنځایه خیال په سر کې ولرئ. تاسې نه پوهېږئ. چې د ایران اوسنی سلطنت (قاجاریان)، د روس د دولت لاسپوڅي دي؟ اعلیحضرت شاه او د ایران نور ټول چارواکي د روس د امپراتور په اطاعت او تملق (غوړه مالي) کې روزل شوي دي. نو په داسې حال کې یو ټیټ، ضعیف، وروست طبیعت لرونکی، له هر ډول لهو او لعب څخه ډک او په بې نظمۍ کې ډوب او په ټولنیزه بېوزلي اخته دولت څه کولای شي؟ په وړاندې یې یو قوي د روسیې غوندې ځواکمن دولت دی، چې په ټېر یې ناست دی..." (۲)

حال دا، چې له دې څخه مخکې امیر عبدالرحمن خان د ایران په هکله بل ډول نظر درلود او د افغانستان-

---

۱- تاریخ روابط سیاسي ایران و انګلیس. دوهم ټوک. ۵۱۲ مخ

۲- محمود- محمود تاریخ روابط ایرانی و انګلیس- څلورم ټوک ۱۰۱۵ مخ

Scanned by CamScanner

ایران او ترکیې د یوه اتحاد د جوړولو لپاره یې ایران ته د اسلام د ملا (کمر اسلام) نوم ورکړی و. خو نور
نو د انګلیس د سیسبو ددغه ډول اتحاد جوړولو ته مجال او فرصت نه و پرېښی. نامتو لارد کرزن، چې د
ایران او د افغانستان تر منځ نفاق ته ډېر خوښ و داسې ولیکل:

د غیر دوستانه احساساتو پیدا کېدل د دوو هېوادونو تر منځ (ایران او افغانستان) د سیستان د
حکمیت په پېښه کې (هغه هم د انګلیس په دسیسه) لا زیات شو. په تېره بیا امیر شیرعلي خان هغه
مهال لا په غوسه شو، چې ایران ایوب خان ته پناه ورکړه. که نن ورځ دغه غیر دوستانه احساسات ساړه
پاړه دي، دا ځکه چې امیر عبدالرحمن خان تر دې ډېر خطرناك دی. چې له هغه سره لوبه وشي او یا هم
هغه ته دوکه ورکړل شي. دا هم باید زیاته شي، چې د امیرعبدالرحمن خان ویروونکي او زړور پوځ د
ایران لښکر ته په مسخره ګې او سپك نظر ګوري. د ایران د لښکر او د افغانستان د مدعا لرونکي او
ګټې ډېرو لرونکو پوځیانو تر منځ ډېر توپیر دی...([1])

په همدې ۱۸۸۸م کال کې سردار محمد ایوب خان په ایران کې سیاسي پناه اخیستونکي په هرات
باندې د برید کولو په موخه له تهران څخه تر خوان پورې را ورسېد. خو بېرته مشهد ته ناکام ستون شو
انګلیسانو وغوښتل، چې خپل دغه ډېر کلك دښمن د امیرعبدالرحمن خان د ویرولو په خاطر خپل لاس
کې ولري. نو ځکه نصرالدین شاه د پته چمتو شو. چې سردار بندي کړي او انګرېزانو ته یې په لاس ورکړي.
دا مهال د مشهد والي رکن الدوله سردار ته د مشهد ارګ ته د ورتګ بلنه ورکړه. په دې بهانه چې د
پاچا له امر سره سم به هغه ته بخشش ورکړي او د دې اجازه به ورکړي، چې هر لوري ته چې ځي ولاړ دې
شي.

سردار سره خپل ۲۵۰ افغانان وسله وال یو ځای وو او په ډېره هوښیارۍ ارګ ته ننوت. په داسې حال
کې، چې ایراني درې کنډکونه ورته په کمین کې ناست وو. نو افغاني ملګري یې بې وسلې شول او دی
په خپله بندي کړل شو. د ایران دولت د معمول دود برخلاف. دغه سیاسي پناه غوښتونکي او خپل
دروند میلمه د دښمن (انګرېز) د دولت قونسلګري ته وسپاره. انګلیس قونسل مکلین سردار د تهران او
بیا د بغداد له لارې انګلیسي هندوستان ته ورساوه. سردار همالته پاتې شو، تر څو چې همالته وفات
شو.

نصرالدین شاه یوه بل افغان سره هم همداسې چلند وکړ او د هغه په وړاندې یې خان له لاسه ورکړ. هغه
سید جمال الدین افغاني ایران ته ور وغوښت، خو کله یې چې ددغه نامتو خپلواك او پوه سړي اعمال او
خبرې ولیدې. وارخطا شو او امر یې وکړ. چې هغه دې په سنډا پسې وتړي او په بندي توګه دې د ایران
له پولو څخه وایستل شي. سرلوړي سید جمال الدین دغه سپکاوی هېر نه کړ او خپل یو پیرو مرزا رضا
کرماني ته یې دنده وسپارله، چې نصرالدین د تومانچې په ګولۍ وولي. په دې توګه سید جمال الدین
تورن وګڼل شو او له اسلامي شاهي هېوادونو سره یې اړیکې خرابې شوې، تر څو چې په اسلامبول کې
په ناڅرګند ډول وفات یا هم له منځه یووړل شو او بیا ورپسې د ختیځ دغې نامتو څېرې پسې پراخه

[1] محمود- محمود، پېنځم ټوك ۱۴۴۲ مخ

Scanned by CamScanner

پروپاګندې هم پیل شوې.
په دغه برخه کې یو ایراني تاریخ لیکوال له نصرالدین شاه او د هغه له صدراعظم میرزا علي اصغر خان اتابك څخه ننګه کړې او د هغوی دواړو وژنه یې د انګرېز په لمسون بللې دي. دا څکه چې انګرېزانو داسې انګېرله، چې نصرالدین روسانو ته ډېر لېوال شوی دی. نو ځکه یې داسې لیکلي وو:

"... خو د لندن د انټیلیجنټ سرویس پراخه دستګاه دشاه (نصرالدین) او اتابك (صدراعظم علي اصغر) په لټه کې شوه. سید جمال الدین له لندن څخه اسلامبول ته ولاړ او د سلطان عبدالحمید تر ملاتړ لاندې یې د اسلام د یو والي توغ او جنډه ورپوله. میرزا ملکم خان په لندن کې د ایران وزیر مختار: قانون ورځپاڼه (د ایران د مستبدې ادارې په ضد اصلاحي او انتقادي جریده) جنډه کړه او په هندوستان کې د کلکتې په ښار کې موید الاسلام (ایراني بل لیکوال) د حبل المتین ورځپاڼه په کار واچوله. پروفېسر براون، چې د بابیانو غورې کولې په ایران کې د مالي او ځان د خطر او بې امنیتۍ له لامله منډې ترړې پیل کړې...(۱)

ګواکې دغه لیکوال سید جمال الدین افغاني، میرزا ملکم، موید الاسلام او براون درې واره یوه ډله کې او یو ډول خلك ګڼي. حال دا چې داسې نه وه. د سید جمال الدین او ددې نورو تر منځ د ځمکې او آسمان توپیر و. میرزا ملکم خان په لندن کې د ایران سفیر او مامور یو ارمني و او د لیکوال د خپلې وینا له مخې یې په ایران کې له نصرالدین شاه څخه (لاتار) امتیاز ترلاسه کړی و او په لندن کې یې په یوه موسسه باندې په ځلوېښت زره پونډه وپلوره. یعنې هغه داسې یو سړی و، چې پیسې یې پېژندلې. جلال الدین موید الاسلام هم په یوه انګلیسي مستعمره کې آزادانه خپرونې کولې او هېڅا یې مخه نه نیوله. براون هم یو انګرېز و، چې د خپل دولت ګټې یې نه هېرولې. خو سید جمال الدین، چې په ټوله نړۍ کې یې یوه لویشت ځمکه نه درلوده او واده یې ونه کړ او اولاد یې نه درلود او په هېڅ هېواد کې یې وزارت او صدارت ونه مانه، نو آیا څه به هغه د یوه استعماري دولت ګټو ته، او هغه انګرېز، چې دده د هېواد دښمن و اړ کړی وای؟ آیا همدا انګرېزان نه وو، چې هغه یې له هند او مصر څخه ایستلو ته اړ کړ؟ سید جمال الدین تر دې ډېر اوچت و، چې د چا په بند کې راشي، هغه لکه هغسې، چې د افغانستان لپاره مرکزي دولت او اصلاحات غوښتل. ترکیې او ایران ته هم ډیموکراتیك رژیمونه غوښتل او مصر او هندوستان ته یې د ښکېلاك له جغ څخه خپلواکي غوښتله. سید جمال الدین افغاني د پرنګیانو په وړاندې لا آن هغه مهال د یووالي شعار ورکړي وو، نه د ښکېلاك د منلو لپاره. په دې توګه دده دغه شعار د انګرېز په زیان و، نه په ګټه. آیا دا د منلو وړ ده، چې استعماري سیاست، د استعمار دښمن ځانته ونوموي او د پام وړ ټولنو کې د هغه د ارزښت اغېزه کاواکه کړي؟
مظفرالدین شاه په ۱۸۹۷م. کې د ایران پر تخت کېناست او پرنګ کې یې د تفریح او خوشحالۍ د تیرولو لپاره دوه ځله له روسانو څخه پورونه واخیستل او هغوی ته یې د امتیازاتو په ورکولو سره په ایران کې د هغوی نفوذ لا پیاوړی کړ. د هغه صدراعظم عین الدوله په خلکو دومره ظلم وکړ، چې خلك

(۱)- تاریخ روابط ایران و انګلیس د محمود-محمود اثر. شپږم ټوك ۱۷۲۸ مخ.

یې په غوسه کړي وو د ایران ملایانو پاڅون وکړ او په خپله اصطلاح (عدالت خانه) یې غوښته د هغوی تر څنګ روڼ اندي هم ودرېدل او د مشروطیت غوښتنه یې وکړه. خلکو له دغه نوي غورځنګ څخه ملاتړ وکړ او یوه عمومي مبارزه پیل شوه. انګرېزي دولت هم د روس په وړاندې د دغه غورځنګ ملاتړ وکړ. په پای کې د ایران دولت اړ شو او مظفر الدین د مشروطیت فرمان لاسلیک کړ. د خلکو لاربښوونکو وکولای شول. چې ډېر ژر د اداري په تنظیم او سمون کې د ایران د ملت لیاقت او استعداد را څرګند او ثابت کړي، خو د دوو ګاونډیانو استعماري دولتونو لاسوهنو پرې نه ښودل. چې مشروطیت پوخ شي. نو ځکه یې ایران قصداً او په لوی لاس د ګډوډۍ سیند کې ډوب کړ. په ۱۹۰۵م کې محمد علي قاجار د مظفرالدین پر ځای کښېناست او لا زیات ظلمونه یې پیل کړل دوه کاله وروسته (۱۹۰۷) بیا ایران د روس او انګلیسانو د ګټو د نفوذ په سیمووویشل شو، خو د انګرېز د سیاست په پرتله د روس د سیاست اغېز پر ایران زیات و، دا ځکه چې د روس دولت په تواضع سره د ایران دولت سره مالي مرستې کولې او د ایرانیانو په وړاندې یې لکه د انګرېزانو په شان وچ تکبر نه درلود. البته بیا هم د ایران خلکو له مبارزې څخه لاس وانه خیست، تر څو چې محمد علي را وپرځېد او په ۱۹۱۰ کې احمد مرزا د هغه پر ځای کښېناست او یو ځل بیا یې د مشروطیت زمنه وکړه.

خو د روس او انګلیس لاسوهنو ایران ضعیف کړی و. آن دا چې په لومړۍ نړیواله جګړه (۱۹۱۴-۱۹۱۸م) کې ایران د روس او انګرېز یعنې دواړو تر پښو لاندې دل شو او نور نو د دغه هېواد تمامیت او استقلالیت خپل مفهوم له لاسه ورکړ. تر څو چې وروسته له ۱۹۱۷ څخه. چې کله شوروي اتحاد جوړ شو. نو د زاري دولت پر ځای نوی شوروي دولت پخواني تړونونه او امتیازات لغوه اعلان کړل او ایران وژغورل شو. په ایران کې د انګلیس او زاري روس چلند ډېره اوږده کیسه لري. چې ډېره له خواشینۍ ډکه ده او هر احساس لرونکي انسان ځوروي. په هر حال وروسته تر لومړۍ نړیوالې جګړې څخه ایران د بېنتۍ له ګرداو څخه راووت او ورپسې د قاجاریانو کورنۍ له واک څخه پرېوته او د دولت په سر کې یو نظامي سړی (رضا شاه) واک تر لاسه کړ. هغه د یوه نظامي استبداد تر سیوري لاندې ایران ته یووالی راوست او سیاسي مرکزیت یې پیاوړی کړ. هغه سیاسي نظامي، اقتصادي او کلتوري اصلاحات راوستل. دا هغه مهال و، چې په نورو ختیځ هېوادونو کې هم بدلونونه راغلي وو.

په افغانستان کې شاه امان. په ترکیه کې مصطفی اتاترک. په مصر کې سعد زغلول، په عراق کې امیر فیصل او په عربستان کې ابن سعود ددغو اصلاحاتو مشران او لارښوونکي وو. افغانستان په دغه دوره کې د استعماري واکمنۍ د دوران پرخلاف. له ایران سره د دوستۍ لاره نیولې وه او د تاریخي ګاونډیتوب او ملګرتوب لاس یې ورکړ.

په دوهمه نړیواله جګړه کې د انګلیس دولت په ختیځ باندې د آلمان د احتمالي یرغل او ویرې څخه له خپل متحد، شوروي اتحاد سره د ارتباطي کرښو د ټینګښت په خاطر، د ۱۹۴۱ کال په اګست کې د شوروي لښکر په مرسته له دوو ډلو انګلیسي الوتکو، د ټانک له یو کنډک او دوه فرقو سرتېرو سره په ایران برید وکړ او په ډېره آسانۍ یې ددغه هېواد د تیلو کانونه، لارې او نور ضروري ځایونه د پارس تر

Scanned by CamScanner

خلیج پورې ټول ونیول ورپسې یې خرمشهر، آبادان او اهواز هم ونیول او ډېر ژر یې د ایران د پلازمینې د نیولو په خاطر حرکت وکړ. د همدغه کوچني برید په ترڅ کې څرګنده شوه، چې د ایران استبدادي دولت فقط د هېواد دننه ځان ځخه پرتمین ځواك او د وریځو اوبش جوړ کړی او خپل ملت یې تر ګوابن او ویرې لاندې نیولی دی. حال دا چې د بهرني برید په وړاندې تش ډول دی، دا ځکه چې دغه دولت د خپل ملت له ملاتړ څخه بې برخې و. په دې توګه د انګلیس او شوروي ځواکونه ډېر په آسانۍ ایران ته ننوتل او رضاشاه، چې مخکې یې له تېري کوونکو ځواکونو سره د روغې جوړې غوښتنه کړې وه، نور همدغو یرغل کوونکو ځواکونو په لاس یې له واك څخه وغورځول شو او هغه یې یو هانسبورګ ته تبعید او تر ۱۹۴۴ پورې هلته و تر څو، چې مړ شو. د ایران سلطنت محمدرضا شاه پهلوي (اوسني پاچا) ته وسپارل شو. په ایران باندې د انګلیس او شوروي د یرغل په ترڅ کې د دښمن په ټول لښکر کې یوازې ۲۲ تنه ووژل شول او ۲۴ تنه ټپیان شول او بس. پاتې ایراني ځواکونه یا تسلیم شول او یا هم وتښتېدل، چې دا ډول ماتې د هېوادونو په تاریخ کې ډېره بېساري و.

# څلورم

# فیوډالي جګړې او د محمد زايي دولت جوړېدل

## (له ۱۸۱۸ څخه تر ۱۸۳۴ پورې)

**فیوډالي جګړې** نولسمې پېړۍ پورې د څه نا څه یو نیم زر کالو په ترڅ کې د
له لومړنیو میلادي پېړیو څخه تر
افغانستان د ټولنیز ژوند بنسټ د یوه طبیعي او فیوډالي اقتصاد پر بنسټ ولاړ و، چې لاسي بزګري
ضایع هم ورسره تړل شوي وو. د ځمکو زیاته برخه د حاکمه طقبې (فیوډالانو) په لاس کې وې او بزګرانو
به ډېرو پخوانیو لومړنیو وسایلو کښت کاوه، یوه بزګر له خپلې کورنۍ سره یواځې تر اته جریبه ځمکې
پورې کرلای شوه. که چېرې د کار وسایل او څاروي به په خپله د بزګرو نو په هغه ډېر مساعده حالت کې
به یې نیم حاصل د بزګر او نیم د ځمکې د خاوند و، د یو جریب ځمکې حاصلات د کابل په من څلوېښت
منه کېدل، نو د بزګر برخه په اته جریبه ځمکې کې ۱۲۰ منه یا دوه خرواره غله کېده که چېرې په منځنۍ
توګه د یوه بزګر کورنۍ به څلور تنه وه. نو د یوه کال کار او خواریو یې ایله د کور خوراک ته کفایت
کاوه، خو بزګر اړ و، چې نیم نور حاصلات د جامو او نورو اړتیاوو لپاره ولګوي. نو ځکه به دده خپلې
کورنۍ خوراک کم کړ. د شپنو ژوند تر بزګرانو هم بد او کچه یې ټیټه او ډېر ساده و. روحانیون د
فیوډالانو تر څنګ وو او دولت د دوارو په سر کې و، څومره به چې د مرکزي دولت قدرت کم شو، هومره
به د ملوك الطوايف قدرت زیات شو د دولت فیوډال او روحاني اعاشه له بیګار څخه وه او جګړه د
بزګرانو په اوږه وه. دغه فیوډالي اقتصادي- ټولنیز رژیم څومره چې د بزګر ځبېښناك ته داړې خښولې،
هومره افغانستان د ترقي او بشپړتیا له کاروان څخه وروسته پاتې کېده. له بلې خوا کورنیو جګړو او
بهرنیو بریدونو ټولنیز وضعیت ډېر پېچلی کړی و، دغه جګړې درېو برخو کې وې: له فیوډالانو سره د
بزګرانو طبقاتي جګړې. فیوډالانو سره د فیوډالانو جګړې او له بهرني ښکېلاك سره د ټولو خلکو جګړه.
دغه جګړې زیاتره د دولت د کمزوري کېدو او کله به هم د دولتونو د بدلېدو لامل ګرځېدې. ځینې وخت
به یې فیوډالانو ته لاره هواره کړه، چې د خپلې ځواکمنې لپاره ورڅخه ګټه اوچته کړي.
به نولسمه پېړۍ کې دغه فیوډالي جګړې تر ټولو لوړ برید ته ورسېدې او ددغو جګړو په سر کې د
سردار پاینده خان زامن راغلل. سردار پاینده خان ۲۱ زامن لرل، چې په هغو کې یې ۱۲ تنو د
افغانستان د نولسمې پېړۍ په تاریخ کې ډېر درونډ رول درلود
دغه شپاړس تنه دا دي:
اسلام خان، وزیر فتح خان، نواب اسد خان، نایب تیمور قلي خان، نواب عبدالجبار خان، سردار

محمدعظیم خان. سردار پردل خان. سردار کهندل خان. سردار شیردل خان، نواب عبدالصمد خان، سردار عطا محمدخان. سردار یارمحمدخان، سردار دولت محمدخان. سردار امیر محمدخان، سردار طره باز خان. سردار سلطان محمدخان. سردار رحمدل خان، سردار سعید محمدخان. سردار مهردل خان، سردار جمعه خان او سردار پیرمحمدخان. دوی د واك له ترلاسه کولو څخه وروسته د افغانستان په هر ولایت کې د سرداری لقب خانونو ته ومانه. د یوې نیمې پېړۍ په ترڅ کې د دوی د اولادونو شمېر تر اووه زره تنو پورې ورسېد.

سردار پاینده خان د زمانشاه ابدالي پر مهال د یوې سیاسي توطئې په ترڅ کې د پاچا په وړاندې ودرېد او د توطئه ګرو په ډله کې ووژل شو. د هغه زوی وزیر فتح خان د پلار د غچ اخیستلو په موخه د زمانشاه د دولت په پرځولو کې کارنده برخه واخیسته. خو هغه هم شاه محمود مړ کړ. د هغه نورو ورونو د شاه محمود واکمني راوپرځوله او په خپله د افغانستان په ځینو برخو واکمن شول. خو ددې د شلوکالو په ترڅ کې یوه هم ونشو کولای، چې مرکزي دولت جوړ کړي او د افغانستان سیاسي یووالی ډاډمن کړي. د اوږدو جګړو په ترڅ کې هغه بې شمېره جګړې، چې دوی وکړې، مرکزي دولت یې له پښو وغورځاوه او په هېواد کې کرنه، صنعت، سوداګري او اقتصاد ړنګ او په هېواد کې د سیاسي ګډوډۍ لامل شول. د بزګر او پیشه ور ژوند، چې د ټولنې ډېره مهمه طبقه او د ثروت او کلتور اصلي سرچینه وه، بدتر او لا زیات پریشانه شو دا د یوې پېړۍ په ترڅ کې د هېواد د لا زیات وروسته پاتېوالي لامل شول.

په هر حال د وزیر فتح خان له وژل کېدو وروسته د هغه ورونو د هغه د غچ اخیستو او د واك د ترلاسه کولو لپاره ملا وتړله. سردار محمد عظیم خان د کشمیر والي په ۱۸۱۸ کې خپل ورور سردار دوست محمد خان له یوه لښکر سره د کشمیر څخه مخ په پېښور او بیا کابل ته واستاوه او په خپله شاه شجاع ابدالي یې، چې په شکارپور کې و، په لیکلې بڼه د کابل پاچاهۍ ته ور وباله. سردار دوست محمد خان په پېښور کې د شاه شجاع پر ځای د هغه وراره شهزاده ایوب د پاچا په توګه غوره کړ او په خپله مخ په کابل راغی او له عطا محمدخان سره یې په یو پټ جوړ جاړي کې د شاه محمود وراره او د کابل حاکم (شهزاده جهانګیر) فراري کړ او کابل یې ونیو او خپل ملګري عطا محمد خان یې ړوند کړ او د شاه شجاع ورور شهزاده سلطان علي یې هم د ایوب شاه په شتون کې پاچا او ځان یې وزیر کړ. له بلې خوا سردار محمد عظیم خان د کشمیر حکومت خپل ورور سردار نواب عبدالجبار خان ته ور پرېښود او په خپله له کشمیر څخه او شاه شجاع له شکار پور څخه پېښور ته راورسېدل. محمد عظیم خان د هغې وعدې برخلاف شاه شجاع ته ماتې ورکړه، چې ورسره کړې یې وه او شاه شجاع بېرته شکارپور ته وتښتید او خپله له ایوب شاه سره مخ په کابل راغی. اوس دوو ورونو (سردار دوست محمدخان او محمدعظیم خان) دوه نور ورونه (ایوب شاه او سلطان علي شاه) لاسونو کې نیولي وو. محمد عظیم خان په ۱۸۱۹ کې سلطان علي د کابل له تخت څخه او دوست محمد خان د کابل له وزارت څخه وغورځول او وروسته یې بیا سلطان علي د ایوب شاه د زوی اسمعیل په لاس په کابل کې مړ کړ.

له دې څخه وروسته د افغانستان شمال او مرکزي ولایتونه (بدخشان. تخارستان. بلخ. میمنه او هزاره

Scanned by CamScanner

جان، د سیمه ییزو حکومتونو تر واك لاندې په جلا توګه د ملوك الطوایفیو بڼه غوره کړه. هرات د شاه محمود تر واکمنۍ لاندې پاتې شو. کابل سردار محمد عظیم خان ته، غزني سردار دوست محمدخان ته، پېښور سردار یارمحمدخان ته (وروسته د عطا محمد خان له مړینې. کشمیر نواب عبدالجبار خان ته. کندهار سردار پردل خان ته (د شیردل خان له مړینې وروسته) او دیره جات (دیره اسمعیل خان) نواب محمد زمان خان ته ورکړل شول. په دې توګه د افغانستان د یوه میراثي مال په توګه د محمدزایي ورونو ترمنځ ترکه او وویشل شو. بهرنی دښمن (د پنجاب سکهه) چې دا حال ولید ورو ورو یې لومړی اټك، بیا پېښور او کشمیر لکه د ملتان په شان له افغانستان څخه جلا کړل او پنجاب پورې یې وتړل. رنجیت سنګهه، چې د افغانستان د ختیزو ولایتونو تجزیې ته هم پیاوړی و او هم انګریزانو ولمساوه، د افغانستان له کورنی ګډوډي او د محمدزایي ورونو له اختلاف څخه پوره ګټه واخیسته. دا څکه رنجیت دفعه ترون له مخې، چې انګریزانو سره یې کړی و نشو کولای د ستلج له سند څخه په تېرېدو په هند کې خپل واك پراخه وکړي، نو ځکه رنجیت سنګهه افغانستان ته پام اړولی و. رنجیت په ۱۸۱۸ کې کله، چې محمدزایي وروڼه له ابدالي دولت سره لاس او ګرېوان وو، ملتان ولایت یې وروسته له یوې کلکې جګړې څخه ترلاسه کړ او هلته یې عامې وژنې وکړې. په داسې حال کې، چې د افغاني حاکم مظفر خان او د هغه زوی شهسوارخان له افغاني پوځ سره د جګړې په ډګر کې ووژل شول. له هغه وروسته رنجیت په پېښور ورغی، بالاحصار یې ور وسوځاوه او ښار یې د کشمیر د پخواني حاکم عطا محمد خان زوی جهاندادخان ته ورکړ. په ۱۸۱۹م. کې رنجیت یو پوځ د مظفر جنګ په مشرۍ کشمیر ته واستاوه. هغه یې ونیو او نواب جبار خان وتښتید.

رنجیت لکه هغسې، چې د ملتان حکومت او مالیات د دوه میلیونه او پنځه سوه زرو روپیو په بدل کې د یوه کال په ترځ کې رکن الدوله صادق خان ته ورکړي وو، همغسې یې هم د کشمیر حکومت او مالیات په کال کې د پنځه میلیونه او درې سوه زرو روپیو په وړاندې ظفرجنګ بهادر ته ورکړ. په ۱۸۲۴ کې رنجیت وکولای شول، چې د اټك تر غاړې خپلواکي غوښتونکو افغانانو ته ماتې ورکړي، دا ځکه چې سردار یار محمدخان د خپلې سیمې مالیات له سوغاتونو سره یو ځای رنجیت سنګهه ته ورکړل. کله چې رنجیت سنګهه دیره جات هم ونیول. په ۱۸۳۲ کې یې د ډېره اسمعیل خان مالیات په کال کې دوه سوه او پنځه وېشت زره روپۍ، صادق خان ته ورکړل. د سند او بلوچستان سیمه ییزو چارواکو هم خپله سیمه ییزه خپلواکي وساتله. د افغانستان ددغې ترکې او وېش پایله دا شوه، چې د افغانستان بېلا بېلې برخې د بېلا بېلو سیمه ییزو ځواکونو لاس ته ورشي او هر ملوك الطوایف د خپلې واکمنۍ دننه له خلکو څخه په خپله خوښه مالیات او عوارض واخلي او له نورو شا و خوا واکمنو څخه په ویره کې ژوند وکړي. ددغو سیمه ییزو واکمنو عواید د دوی د نظامي او شخصي لګښتونو لپاره وو، نو ځکه د افغانستان مرکزي دولت له خپل ټول هغه ملکي او نظامي تشکیل او د وزارتونو، اردو او خزانو له شتمنۍ سره یو ځای، چې د ابدالیانو پر مهال یې لرل، له منځه ولاړ او د هېواد ولایتونه په کوچنیو، بېوزله او ټیټه کچه جوړښت کې رامنځته شول. د هر ولایت سردار پرته له قاضي منشي او محاسب څخه و او نور نو د

Scanned by CamScanner

سیمې د پرمختګ لپاره کوم تشکیل، اداري جوړښت او مالي توان نه وخت نه و پاتې. په تېره بیا دا
چې دغه سیمه بېزه سرداران یو د بل په وړاندې په تیري، برید او یو بل څخه د خان ساتلو په جګړو کې
یو د بل د سر دښمنان شوي وو او یو د بل وینو ته تږي وو. دغه اخ او ډب نه یواځې دا، چې کورنی او
بهرنی سوداګري، صنعت، کلتور او کرنه له منځه یووړه بلکې خلک یې د یوه دایمي فشار، ظلم او ملا
ماتوونکو مالي بارونو لاندې ساتل او د فیوډال فشار ورباندې ورځ تر ورځې زیاتېده. دا څکه چې سیمه
بېزو سردارانو د سیالانو په وړاندې د خپل ځان د ساتنې او پیاوړې کولو لپاره نور کوچني فیوډالان
خانونو ته رانږدې کول. دغه کار ددې لامل کېده، چې کوچني فیوډالان لا خپلسري شي او په خلکو
باندې په خپله خوښه هر څه ومني. په دغو ټولو ملك الطوايفيو کې یواځې د هرات اداره یو څه منظمه او
د تشکیلانو لرونکې وه. دا څکه، چې هلته لا هم د ابدالي پخوانی اداري یو څه تشکیل او نسبي پاتې
وې او لا هم دلته یار محمد خان، چې یو با درایته، هوښیار او پوه سړی و، د چارو په سر کې و او په پوره
کفایت او درایت یې حکومتي اداري چلولې.

محمدزايي سرداران نه یواځې دا، چې ملوك الطوايفي یې له منځه نشوی وړای او د هرات د ابدالي
حکومت په وړاندې پاتې راغلل، بلکې په ختیځ کې د سکهه د دولت په دفاع کې هم پاتې راغلل او لا یې
هم په خپله ملوك الطوايفي دود کړه او هېواد یې ټوټه ټوټه کړ. لکه هغسې، چې محمدزايي وروڼه دننه
په خپلو کې یو د بل دښمنان وو، ځینې وخت به یو د بل په ضد بهرني دښمن سره یو کېدل او له دښمن
سره به یو لاس شول. د بېلګې په توګه د پېښور سرداران له رنجیت سنګهه سره یو ځای شول او د کندهار
سردارانو ایران سره ځان یو کړی و او یو د بل په وړاندې یې توري راکښلې. دغه بې اتفاقي او رده کلونه
د سردارانو د کورنی تر منځ روانه وه. آن دا، چې کله دوی د امیر دوست محمد خان او امیر شیرعلي خان
پر مهال کوم مرکزي دولت هم جوړ کړ بیاهم دغه بې اتفاقي د یوه پراخه میراثي مرض په بڼه موجود وه،
چې د هغه له لامله د افغانستان ختیځ ولایتونه له لاسه ووتل.

سردار محمدعظیم خان په ۱۸۱۹ کې د سند د سیمه بېزو امیرانو په بلنه هغه لوري ته یو لښکر
واستاوه، چې د غلو د یوې ډلې د نیولو تر نوم لاندې انګرېزان سند ته راغلي وو، هغوی بېرته وشړي،
خو د انګرېزانو پوځ دده له رسېدو مخکې سند پرېښی و او سردار له خپلو څو ورونو سره یو ځای د
بولان له لارې سند ته ننوت. شاه شجاع، چې لا دا مهال ځان د سند پاچا باله د سردار د لښکر په وړاندې
له شکار پور څخه په شا ولاړ او لودیانه ته بېرتون شو. سردار محمد عظیم خان د سند پاتې مالیات د
هغه ځای له امیراتو څخه وغوښتل. خو دده وروڼه، چې ده سره په پوځ کې وو، په پټه له میرانو سره جوړ
جاړی وکړ. سردار دوست محمد خان سردار شیردل خان او سردار پیرمحمد خان هر یوه جلا جلا له سندي
میرانو څخه سل سل زره روپۍ وغوښتې او له خپلو عسکري کنډکونو سره یو ځای د سردار محمد
عظیم خان له لښکر څخه جلا شو او سردار، چې یواځې پاتې شو د سند له یو نیم میلیون روپیو مالیاتو
څخه تېر شو او بېرته کابل ته راغی او د شکارپور حکومت نایب ملا مومن غلجي ته ورکړل شو. له
وروسته بیا سردار رحمدل خان له کندهار څخه د هغه په ځای مقرر شو. کله چې سردار کابل ته راغی، د

Scanned by CamScanner

سردار عبدالصمد خان په لاس یې سردار دوست محمد خان. چې دده په غیاب کې په کوهستان کې ځای پر ځای شوی و، له هغه ځایه وشاړه. دوست محمد خان خپلو پېښوري ورونو ته ورغی او د کوهاټ حکومت یې ترلاسه کړ. سردار محمد عظیم خان د مالیاتو د ترلاسه کولو لپاره له کابل څخه پېښور ته ورسېد او دوست محمد خان یې له کوهاټ څخه بر طرف او د هغه پر ځای یې خپل تره رحیم داد خان هلته مقرر کړ او کابل ته د راستنېدو په لاره کې یې غزني یو ځل بیا دوست محمد خان ته ورکړ. دوست محمد خان د ورور په وړاندې پاڅون وکړ. محمد عظیم خان لښکر ور وست او دوست محمد خان وروسته تر جګړې تسلیم شو. دا مهال پنجاب د سکهـ دولت د اسمعیل خان په دیره برید کړی و او په ۱۸۲۱ کې یې هغه ځای ونیو. سردار محمد عظیم خان وغوښتل. چې د سکهـ مخې ته ورشي، خو د هغه ورونو ونه منله. سکهـ دولت نور هم زړور شو او په ۱۸۲۲ کال یې په پېښور هم یرغل وکړ. عظیم خان له خپلې زیرمې شوې خزانې سره د هغه مقابلې ته ورغی. دغه خزانه. چې د کشمیر او نورو سیمو له خلکو څخه راټوله شوې وه. یوه شیبه هم له سردار څخه جلا نه وه. اندازه یې دوه میلیونه او اووه سوه زره روپۍ وې تر څو، چې سردار د سند غاړې ته ورسېد. د رنجیت سنګهـ ځواکونو د اټك کلا نیولې وه او د سندهـ کیڼ لاس ته په نوښار کې یې لښکر کوټ جوړ کړی و. یوسفزي خټك او اپریدي افغاني قبایلي د دښمن د شړلو په خاطر پاڅېدل او په نوښار یې بریدونه وکړل. خو د سکهـ منظم توپچي او هغه سره یو ځای اروپایي جنرالانو (ایلرد او وینجورا) افغاني مبارزین وځپل. په داسې حال کې. چې سردار محمد عظیم خان له خپلې خزانې سره یو ځای د سند ښي غاړې ته ولاړ او له لرې څخه یې ورته کتل. کله یې. چې د دښمن زور ولید پرته له جګړې څخه راستون شو او له خپلې خزانې سره یو ځای پېښور ته راغی.[1] او بیا پرته له ځنډه یې د جلال آباد او کابل لاره مخکې ونیوله او دلته بند په غابښي کې په ۱۸۲۲ کې ومړ. خزانه یې د زوی سردار حبیب الله لاس ته ورغله د محمد عظیم خان په دغه بې جنګه تېښته کې دده د ورور سردار یارمحمد خان لاس هم شریك و. دا ځکه چې هغه په پټه له رنجیت سنګهـ سره لاس یو کړی و او رنجیت ورسره منلې وه، چې که چېرې بریالی شي، نو پېښور به ده ته ورکوي. نو ځکه یې سردار محمد عظیم خان ته په غلطه خبر ورکړ. چې د رنجیت ځواکونه په میچنی کلا کې د سردار په خزانه باندې ورغلي دي، نو سردار د خزانې ساتنه د پېښور تر ساتنې غوره وبلله او دې خوا ته یې راوګرځاستل. رنجیت هم په بیړه بیړه د ۱۸۲۳ کال په مارچ کې پېښور ا واشنغر ونیول او د دواړو ځایونو حکومتونه یې پېښوري سردارانو (یارمحمد خان سلطان محمد خان او نورو) ته وسپارل له همدې کال څخه وروسته دغه سرداران د پنجاب د سکهانو د دولت په چوپړ کې شول[2] د کندهار محمدزي ورونو هم د سردار محمدعظیم خان د خزانې د ترلاسه کولو لپاره په بیړه سردار پردل خان کابل ته راواستاوه. هغه په کابل کې ایوب شاه بندي او د هغه زوی شهزاده اسمعیل یې مړ او سردار حبیب الله یې د پیسو په بدل کې په کابل مقرر کړ او خپله بېرته کندهار ته ستون شو او د ایوب شاه بل زوی محمد

---

۱- د پښتنو تاریخ، لومړی ټوك. ۲۴۰ مخ

۲- د پښتنو تاریخ، لومړی ټوك

Scanned by CamScanner

مراد يې هم مړ کړ. د حبيب الله د حکومت شپږ مياشتې نه وې تيرې، چې سردار دوست محمد خان له پېښور څخه کابل ته راغی او د خپل وراره د راپرځولو په چاره لګيا شو. سردار دوست محمد خان له خپلو نورو ورونو (لکه سردار امير محمد خان او نواب عبدالجبار خان) سره يو ځای په کوهستان او لوګر کې لښکر چمتو کړ او په کابل يې بريد وکړ. سردار حبيب الله خان کلابند شو او له خپلو کندهاري ترونو څخه يې مرسته وغوښته. پردل خان يو ځل بيا کابل ته راغی. خو له حبيب الله خان سره يې روغه ونه شوه، نو ځکه بېرته ستون شو دوست محمد خان د غزني او وردګ د حکومتونو په خپلولو سره حبيب الله سره روغه جوړه وکړه، خو لږ موده وروسته يې د سولې تړون مات کړ او په کابل يې بريد وکړ. حبيب الله يو څه نغدې پيسې ورکړې او روغه وشوه. دوست محمد خان غزني ته ستون شو. شيردل خان له کندهار څخه کابل ته راورسېد او د حکومت چارې يې خپل لاس کې واخيستلې شيردل خان تر هر څه د مخه سردار دوست محمد خان او حبيب الله دواړه بنديان کړل او د پام وړ خزانه يې ترلاسه کړه، بيا يې حبيب الله لوګر ته واستاوه او سل زره روپۍ يې دوست محمد خان ته روکړې او خوشې يې کړ. حبيب الله يو جاهل او بې سره ځوان و، چې پرته له عياشۍ او هوس سرولو څخه يې بل کار نه درلود، د خپل پلار خزانه يې له لاسه ورکړه او خپله د دوست محمد خان په چوپړ کې پاتې شو. وروسته بيا خپلو پېښوري ترونو ته ورغی، له هغه ځايه لالپورې او بيا جلال آباد ته راغی. خلکو د هغه په وړاندې پاڅون وکړ، نو ځکه هغه خپلو کندهاري ترونو ته ورغی، خو هلته يې هم ګوزاره ونه شوه او رنجيت سنګهه ته يې پناه ور وړه او هلته د غازي خان ديره کې مېشت شو، په پای کې يې خپله ښځه او بچيان ووژل د سند په سند کې يې واچول او نور نو همداسې پسې ورک شو.(۱)

دوست محمد خان د حبيب الله له مور سره واده وکړ تر څو د خپل ورور محمد عظيم خان ځای ناستی شي هغه په پټه له پېښوري سردارانو سره خبرې-اترې وکړې او له هغوی سره په لاس يو کولو يې سردار شيردل خان په کابل کې کلابند کړ. سردار پردل خان له کندهار څخه د سردار شيردل خان مرستې ته راودانګل او په ۲۴-۱۸۲۵ کلونو کې خونړي جنګونه ددغو ورونو تر منځ پېښ شول. په پای کې خلک د محمدزايي ورونو له وضعيت څخه په غوسه شول او د دوی تر منځ يې روغه راوسته. محمدزايي ورونو په قرآن باندې ژمنه وکړه او د افغانستان بېلا بېلې نيولې شوې سيمې يې خپلو منځو کې ووېشلې. لکه څنګه چې تاريخ ليکوال احمد علي کهزاد ليکي: "ددغه قرآن اصلي نسخه، چې د محمدزايي ورونو ژمنه وربانديې شته د کابل په موزيم کې خوندي ده. چې په دې توګه ده:

"په دې مهال د ۱۲۴۲ هجري قمري د ربيع الثاني په لسمه. چې له ۱۸۲۲ ميلادي کال سره برابر دی، وروسته له هغې شخړې څخه، چې زمونږ ورونو تر منځ پېښه شوه او د کابل دارلسلطنت ښار سردار دوست محمد خان نيولی دی، مونږ ټول ورونه او وريرونه د کورنۍ(!) د خير، اتفاق او صلاح په خاطر راټول شوي ياستو د دولت د چارو د سمون او د خپلو، سلسلې د بنياد د استحکام په خاطر مو داسمه وبلله، چې کوهاټ، انګو او شا و خوا يې د نواب عبدالصمد خان وي. پېښور او هشتنغر او خالصه

۱- افغانستان په نولسمه پېړۍ کې، ۵۰ مخ

Scanned by CamScanner

جات د سردار یارمحمد خان، سردار سلطان محمد خان، سردار سید محمد خان او سردار پیر محمد خان وې، دارلسلطنت کابل، کوه دامن او خالصه جات او نور توابع به د سردار دوست محمد خان او سردار امیر محمد خان وي، د غلجیو د قوم او د کابل معاملات او مالیات به د نواب عبدالجبار خان وي، لوګر، څرخ، تاجکیه، میدان، غوربند او د لهوګرد خالصه جات به د سردار حبیب الله خان د سردار محمداکرم خان او د هغه د ورونو وي. چې په دې توګه به له لاندې تفصیل سره سم هر یو خپل خپل ملکونه... ولري او د نوي کال د تنګو زئیل سنې له پیل څخه به سردار دوست محمد خان یو لك (سل زره) روپۍ د کابل د مالیاتو له درکه کال په کال د نواب عبدالصمد خان په ضمانت د سردار یارمحمد خان په وجه کې د هرې میاشتې په قسطونو سره ورکوي. له دې لامله، چې نواب عبدالصمد خان له ټولو ورونو مشر او سپین ږیري دي، نو د ټولو ورونو د اصلاح او د خاندان د خیر(۱) لپاره به دوست محمد خان سره په کابل کې اوسېږي که چېرې سردار یارمحمد خان. یا سردار سلطان محمد خان یا سردار سعید محمدخان، یا سردار پیر محمد خان یا د هغوی نور متعلقات په ځرګنده یا ناڅرګنده توګه په کوهاټ او انګو کې، چې د نواب عبدالصمد خان متعلق دي کوم خلل پیدا کوي. یا د هغوی په مال ملك کې دخل او تصرف کوي یا سردار دوست محمد خان د سردار یارمحمد خان خپلوان او منسوبین په پټه یا ځرګنده له هغه ځخه راګرځوي یا د هغه په ملك او مال کې دخل او تصرف کوي، نو عهد شکن او د خدای او رسول دښمن او د ټولو ورونو او وریرونو ملامت به وي او ورونه او وریرونه به ټول په یو اتفاق سره ورسره دښمني او مخالفت کوي. که یې ونه کړي، نو د خدای او رسول دښمنان به وي. او د هغوی یو لك روپیو په اړه، چې د تنګوزئیل د کال له پیل څخه سردار دوست محمد د نواب عبدالصمد خان په ضمانت منلې دي، کال په کال به یې د میاشتني قسط په توګه سردار یارمحمد خان ته ورسوي، که چېرې توپیر راغی او ونه رسول شوې، عهد شکن او د خدای او رسول دښمن به وي او ټول ورونه به ورسره دښمني کوي او که ورسره دښمني ونه کړي، نو د خدای او رسول دښمنان به وي.

که د قندهار ورونه همدغه تقسیم او قرار ونه مني او له هغه څخه سرغړونه وکړي او دې خوا ته د راتګ عزم وکړي، ټول ورونه به په ګډه ملاتړي له کندهاري ورونو سردار شیردر خان، سردار پردل خان، سردار کهندل خان او سردار مهر دل خان سره به مخالفت کوي او پرې به نه ږدي، چې هغوی له کندهار څخه تېری او تجاوز وکړي. او که چېرې سردار یارمحمد خان خپلو نوکرانو او عمله جاتو ته، چې په کابل کې مېشت دي، د هغوی د زمینداری له لامله څه ورکوي، نو هغه به هم په همدغو یو لك روپیو تنخوا کې شمېرل کېږي، هر هغه ورور یا وراره، چې له دغو ژمنو څخه سرغړونه کوي او له دغه تقسیم او قرارداد څخه تیری وکړي د خدای په لعنت او د رسول په نفرین دې اخته شي او د جناب مصطفی له دین څخه به وتلی او مطلق کافران به وي او مونږ به په څلور مذهبه نامسلمان اوسو او په همدغه عهد او میثاق به مونږ ټول ورونه او وریرونه یو بل سره دوستان او په یو اتفاق اوسو او هغه دښمني. چې مخکې له دې مو سره لرله له هغه څخه تېرېږو او یو بل سره دوستان او مهربان اوسېږو. دغه څو کرښې د عهدنامې په

Scanned by CamScanner

توګه ولیکل شوې. تحریر شهر ربیع الثاني سنه ۱۲۴۲ (۱)

خو د محمدزايي سردارانو تر منځ د هېواد له بيا وېشلو څخه وروسته سردار رحمدل خان، چې د سند حاکم و د سنديانو له پاڅون څخه ووېرېد او کندهار ته وتښتيد او د سند ميران له افغانستان څخه جلا شول او سردار شيردل خان هم په کندهار کې ومړ او دده ځای دده ورور پردل خان ته پاتې شو. په پېښور کې د سردار عطامحمد خان له مرګ وروسته حکومت د سردار يارمحمد خان لاس ته ورغی او په کابل کې سردار سلطان محمد خان د حکومت په سر کې پاتې شو. خو سردار دوست محمد خان په ده سبز کې د سردار سلطان محمد خان له لښکر سره ونښت او د کابل خلکو په خپله سردار سلطان محمد خان د کابل په بالاحصار کې کلابند کړ، سردار سلطان محمد خان په ۱۸۲۷ کې بالاحصار پرېښود او پېښور ته ولاړ. د کندهار او پېښور سردارانو د دوست محمد خان په وړاندې ائتلاف وکړ. پردل خان د سند د ساتلو پر ځای مخ په کابل راغی. دوست محمد خان په مقر کې د هغه مخه ونیوله، خو د کولرا ناروغۍ د دوارو د لښکر بې ګناه سرتيري تباه کول. نو ځکه سره جلا شول او ددې په پای کې زابلستان. کابلستان او پروان د سردار دوست محمد خان تر خپلواکۍ اداري لاندې راغلل. د محمدزيو ورونو مرکزونه درې وو: کابل، کندهار او پېښور. په لومړي کې يې دوولس زره پلي او سپاره سرتيري او يو منظم پلي پوځ او ۱۴ توپونه وو. دغه مرکز په کال کې يو ميليون او اته سوه زره روپۍ ماليات لرل. چې په دې کې يواځې دوه سوه او پنځوس زره روپۍ يواځې د کابل ماليات وو. دوست محمد خان د کابل په مالياتو کې پنځوس زره روپۍ زياتوالی راوست او ارمني او يهود سوداګر يې په زور سره له کابل څخه وشړل کندهار نهه زره سپاره سرتيري او شپږ توپونه او تقريباً يو ميليون روپۍ کلني ماليات لرل. چې۱ ورونو تر منځ وېشل کېدل. خو خلك له پردل خان څخه ناخوښه وو، تر څو چې هغه په ۱۸۲۹ کې ومړ او ځای سردار کهندل خان ته ورپاتې شو. پېښور درې زره پلي او سپاره سرتيري او شپږ توپونه لرل. ماليات يې ډېر لږ وو، دغه مرکز په هر کال کې يو څه وريجې او سل آسونه د پنجاب د سکهـ دولت ته د مالیې په توګه ورکول. د پېښور حکومت د سردار عطا محمد خان له مړيني څخه وروسته سردار يارمحمد خان او د هغه له وژل کېدو وروسته سلطان محمد خان ته وسپارل شو. دغه سردار رنجيت سنګهـ ته مطيع شو او يو زوی يې هم د برمته په توګه د لاهور په دربار کې و او دوه ورونه يې وو، چې يو يې په کوهاټ کې او بل يې هشنغر کې حاکمان وو. البته رنجيت سنګهـ مجبور و، چې د پېښور حکومت يوه داسې افغان ته وسپاري، چې ده ته باج ورکوونکی وي، دا ځکه چې ددغه ولايت خلکو هېڅکله په سيده توګه د سکهـ مشرتوب نه مانه. الکساندر برنس په ۱۸۳۲ کابل ته د راتګ په لاره کې د پېښور له حاکم سردار سلطان محمد خان سره ليده کاته کړي وو او په دې هکله داسې ليکي: «۳۵ کلن سردار د زيات قدرت او واك غوښتونکی او يو تعليم يافته، باسواده او د ښه چلند خاوند سړی دی، ښه پراخ دسترخوان لري ګڼ شمېر پخواني خانان شپه او ورځ ورڅخه چاپېر وي او په دسترخوان يې ډوډۍ خوري. سردار په خپله د حکومت چارې پر مخ بيايي او دربار يې د عارضينو له شور زوږ څخه ډك دی، په داسې حال کې چې دغه

---

۱- در زاویای تاریخ معاصر افغانستان. د احمدعلي کهزاد تاليف د کابل چاپ ۱۳۳۱ ش کال.۲۵- ۲۷ مخونه

دعواګانې یوه یې هم کوم حل او فیصلې ته نه رسېږي.[1]

په هر حال، د محمدزایي ورونو په دوره کې د افغانستان په ختیزو ولایتونو کې مهمه پېښه وشوه. دغه پېښه د پنجاب د سکهـ دولت په وړاندې د سید احمد بریلوي تر مشرۍ لاندې د خلکو پاڅون و. سید یو دیني عالم او زړور او پرهېزګار سړی و. هغه په پیل کې د پنداره د نواب امیرخان یو مامور او د هندوستان په شمال کې یې له انګرېزانو سره ډېرې جګړې کړې وې. خو کله چې امیرخان انګرېزانو سره جوړجاړی وکړ او د ټونک نوابي یې ترلاسه کړه سید له نواب سره کار کول پرېښودل او صوفي او عبادتګر شو. وروسته بیا ډیلي ته ولاړ او یو ډول مذهبي اصلاحات یې پیل کړل. هغه په بشپړ ډول اهل قرآن و او پرته له قرآن او قرآن سره له برابرو احادیثو نور هېڅ یې هم نه منل او نور شیان یې بدعت بلل. روښانه ملایانو. په تېره بیا مولوي شاه اسمعیل او ملا عبدالحی، چې مذهبي نامتو علماوو له یو شمېر خلکو سره یو ځای سید سره شول. سید د فداکاره مجاهدینو یوه ډله جوړه کړه، خو مخکې له دې چې د جهاد توره په لاس کې واخلي په ۱۸۲۲ کې لومړی حج ته ولاړ او څلور کاله وروسته بېرته ډیلي ته راغی او د جهاد په تبلیغ یې پیل وکړ. خو سمدستي د هغه جهاد یوازې پنجاب او د سکهـ دولت پورې اېسارو و، له هند او انګلیسانو سره یې څه کار نه درلود او انګلستان له دغه ډول جهاد سره مخالف نه وو. دا ځکه چې نور نو د افغانستان له لوري پر هندوستان باندې د برید ویره ورسره نه وه. چې لکه د پخوا په شان پنجاب د افغانستان په وړاندې په شا وټېوي. بلکې اوس په خپله پنجاب. چې پوره پیاوړی شوی و، د استعمار له نظره د ټکول کېدو وړ بلل کېده، نو په دې حالت کې سید په آزادانه توګه وکولای شول. چې د سند له لارې کابل او بیا کندهار ته راشي او د کابل او کندهار حکومتونه له ځان سره یو او د سکهـ په ضد یې برید ته چمتو کړي. حال دا چې د کابل او کندهار سردارانو داسې څه هوډ نه درلود، چې له دغه ډېر غوره فرصت څخه کار واخلي او افغانستان له لاسه وتلې خاوره بېرته راخپله کړي. نو ځکه یې سید ونه مانه. هغه هم اړ شو او بېرته پېښور ته ولاړ او هلته یې له خلکو څخه مرسته وغوښته. په ۱۸۲۷ کې د یوسفزیو د پنچنار سیمې ته ورسېد. کله چې افغانان د هغه په نیت باندې پوه شول له بنګښ، تیرا، سوات او نورو ځایونو څخه هم ورباندې ور ټول شول او یو لوی ځواك یې جوړ کړ. رنجیت یو پیاوړی پوځ د (بدهـ سنګهـ) تر قومندې لاندې ورپسې واستاوه. سید په اکوړه کې د پنجابي پوځ مخه ونیوله. د پېښور حاکم سردار یارمحمدخان هم د مرستې په نوم له سید سره یو ځای شو، خو د جګړې له پیل کېدو وروسته یې د سکهـ لوری ونیو. نو ځکه د سید افغاني ځواکونه تار و مار شول او سید پنچنار ته بېرته ستون او دښمن پېښور ته ولاړ او د پېښور بالاحصار او د هغه شا و خوا یې ویجاړ کړل او په سردار یارمحمد خان یې هغه مالیات هم ور زیات کړل، چې له ده څخه یې هر کال اخیستل. په همدې کال کې په کشمیر کې یوه ویجاړوونکې زلزله وشوه، چې نهه زره کورونه یې وران کړل او په زرګونه خلك یې پکې مړه شول. ورپسې په ۱۸۳۳ کې په کشمیر کې یوه سخته کاختي راغله، چې د (امرنات) په وینا د هغې جبران تر دوه سوه کالو پورې ونشو، خو له دې سره هم رنجیت په زور سره له

۱- ؟؟؟؟عطاالله، لومړی ټوك، ۲۵۰ مخ.

Scanned by CamScanner

خلکو څخه مالیات واخیستل.
سید په ۱۸۲۹ کې د یوسفزیو خلیلو او مومندو په مرسته په اشنغر کې په سردار سعیدمحمدخان برید وکړ او هغه یې راوپرځاوه. سردار یارمحمدخان په اشنغر متقابل برید وکړ او د جګړې په ډګر کې ووژل شو. ورپسې سید په پېښور باندې برید وکړ او سردار سلطان محمدخان یې له ماتې سره مخامخ کړ. خو بیا یې هم د پېښور حکومت په کال کې د سل زره روپیو مالیاتو په اخیستو سره سردار ته بېرته وسپاره. خو د سکهـ دولت لاس یې له پېښور څخه لنډ کړ. خو بلې خوا ته رنجیت د خپل زوی شیر سنګهـ او جنرال وینجورا په مشرۍ پوځونه راولېږل او اشنغر یې ونیو او د ۱۸۳۰ کال په جګړه کې یې د هزاره په جګړه کې د سید احمد شپږ زره تنه ور ووژل او ماتې یې ورکړه او څو ځله نور هم سید له رنجیت سنګهـ او سردار سلطان محمد خان سره جګړې وکړې او پېښور یو ځل بیا د سید لاس ته ورغی. دا ځل یې هم پېښور بیا سردار ته ورکړ، دا ځکه هغه یواځې له مذهبي پلوه د سکهـ ماتول غوښتل، نه د مسلمانو افغانو ماتول. په پای کې سید کومې جګړې، چې له سکهـ ځواکونو سره وکړې، په ۸۳۱ کې ددغو جګړو په ترڅ کې لکه د مولوي اسمعیل په شان ووژل شو او د رنجیت ځواکونو د سند دواړه غاړې د پنجاب په دولت پورې وتړلې او سردار د سکهـ د دربار له خوا د پېښور په حکومت کې د مامور په توګه وګومارل شو.
په دې توګه افغانستان د محمدزیو ورونو د جګړې او شخړو په دوران کې په څلورو مرکزونو (کابل، پېښور، کندهار او هرات) او څو څو کوچنیو حکومتونو ووېشل شو. په دغو څلورو مرکزونو کې یواځې یو یې د ابدالي کورنۍ د پاتې شونو په لاس کې و، چې څه نا څه منظم و او په یواځیتوب سره یې وکولای شول، چې د ایران یو پیاوړی او لوی برید په شا وتمبوي، خو نور درې مرکزونه ټول د محمدزي ورونو په لاس کې وو. دوی د ملتان په شان کشمیر او دیره جات هم دښمن ته وبایلل او د سند، بهاولپور او بلوچستان ولایتونه یې سیمه ییزو حاکمانو ته ور پرېښودل. سره له دې، چې د سند میرانو او د بهاولپور حاکم محمد بهاول خان عباسي لا هم ځانونه د افغانستان د پاچا تابع بلل او څینې وخت به یې فراري شجاع الملك ته مالیات او سوغاتونه هم ورکول، خو عملاً له افغانستان څخه جلا شوي وو او د افغانستان په شمالي ولایتونو کې سیمه ییز چارواکي په بشپړ ډول خپلواك شوي وو او د افغانستان په زړه کې هم د هزاره جات سیمه ییز میران (میر یزدان بخش خان) په بدخشان کې د هغه ځای میر، په قطغن کې میر مراد بیګ خان او په تاشقرغان کې میر محمدامین بیګ په سرپل کې میر محمود خان، په اندخوي کې میرغضنفر خان، په ایبك کې میر بابا بیګ خان په شبرغان کې میر حکیم خان، په آقچه کې میرایشان صدور خان او په بلخ کې ایشان اوراق خان ټولو د ملوك الطوایفي په بڼه حکومت کاوه او مالیات یې اخیستل. د پېښور سردارانو. ددې لپاره، چې د سردار دوست محمدخان په وړاندې (چې په ۱۸۳۲ کې یې لغمان له نواب عبدالجبارخان یعنې خپل علاتي ورور څخه اخیستی و او خپل عیني ورور سردار امیر محمدخان ته یې ورکړی و) ملاتړي ولري. ځانونه یې د پنجاب د سکهـ دولت پورې وتړل. په دې توګه سکهـ دومره زړور شول، چې د کابل د نیولو لپاره یې یو پوځ برابر کړ. کندهاري ورونو

Scanned by CamScanner

چې سند او بلوچستان له لاسه ورکړي وو. همدا . چې خبر شول، چې په کابل کې د انګریزي استازي الکساندر برنس له امیر دوست محمدخان سره په خبرو بوخت شوی، نو د خپل ورور د څواکمن کېدو له ویرې او په کندهار د هغه د برید له اندېښنې وارخطا شول او ځانونه یې د ایران لمنې ته وغورځول او له کنت سیمونیچ سره چې د هرات غوښتونکي و او په ایران کې د روس سفیر و په تماس کې شول. په خپله امیر دوست محمدخان هم د خپل سیال د له منځه وړلو په خاطر په هرات باندې د پردیو د یرغل پر مهال له افغانستان څخه دفاع ونه کړه. خو کله چې له ختیځ لوري څخه د انګرېزانو د یرغل ګوابښ راپېښ شو. پولو دغو ورونیو پرته له دې. چې جګړه وکړي تېښته غوره کړه او له کابل او کندهار څخه وتښتېدل او د افغانستان خلك یې یوازې پرېښودل

په دغو پولو ورونیو کې یوازې امیر دوست محمدخان په افغانستان کې د یوه مرکزي دولت جوړېدو لپاره ډېر پاملرنه کوله. خو فیوډالي سیالیو او د محمدزایي ورونیو دښمنیو د دغه خیال د عملي کېدو فرصت ورنه کړ. تر څو چې شاه شجاع د افغانستان او سکهـ د جلال آباد د نیولو په فکر کې شول، په دې لړ کې شاه شجاع. چې په لودهیانه کې اوسېده او د انګلیسي پولیټیکل اجنټ سرکلاد وید سره یې اړیکې وموندې، نو د افغانستان نیولو ته ډېر ولمسول شو دا ځکه چې انګلیسي حکومت سره له دې، چې له افغانستان څخه لرې و، خو بیا یې هم دا هیله وه، چې په افغانستان کې داسې څوك پاچا کړي، چې د انګلیس د سیاسي غوښتنو سره سم کار وکړي او په دغه هېواد کې چې د هندوستان نږدې ګاونډي دی، بل هېواد ته د اغېزې ځای او وخت په لاس ورنشي، نو ځکه د هند ګورنر جنرال هڅه کوله، چې رنجیت سنګهـ سره په دغه برخه کې مرسته وکړي. رنجیت او شاه شجاع موافقه وکړه، چې د پنجاب د نظامي مرستې په واسطه په افغانستان باندې د شاه شجاع د برید د بریالیتوب په صورت کې به د پېښور او دیره جاتو مالیات په رسمي توګه د رنجیت وي. په دې توګه شاه شجاع په ۱۸۳۳م. کې په ډېرو لږو وسایلو سره له لودیانه څخه کندهار ته روان شو. هغه د سند له دریاب څخه پورې وت او په شکارپور کې تم شو. هغه د ۱۸۳۴ په جنوري کې د سند د میرانو له څواکونو سره مخامخ شو، چې مالیات یې نه ورکول او په هغوی یې بری وموند. د سند چارواکو د مالیاتو ورکړه ومنله. شاه شجاع د افغانانو او هندیانو په ګډون ۲۲ زریز پوځ جوړ او مخ په کندهار روان شو. د هند کمپنۍ اړوند یو شمېر اروپايي افسران هم د اجیر په توګه په دغه لښکر کې ګډ شول، په دې کې یو انګلیسي مستر کیمپل و، چې د پوځ جنرالي ورته وسپارل شوه. سردار کهندل خان له کندهار څخه د دفاع په لټه کې شو، خو کله چې د دښمن د پوځ له زیاتوالي څخه خبر شو، له خپل سیال ورور سردار دوست محمد خان څخه یې په لیکلې بڼه د مرستې غوښتنه وکړه، دوست محمدخان، خپل یو استازی مستروید ته واستاوه او له هغه څخه یې پوښتنه وکړه، چې آیا د شاه شجاع په دغه لښکر کې د انګلیس دولت هم ونډه لري؟ البته وید په څرګنده، نشو ویلای، چې هو نو ځکه ي منفي ځواب ورکړ. دوست محمد خان چې دا مهال د جلال آباد د حاکم یعنې له خپل بل ورور سره له جګړې څخه نوی وزګار شوی و او جلال آباد یې ورڅخه نیولی و. د هغه ځای حکومت یې خپل عیني ورور سردار امیر محمدخان ته ورکړ او په خپله یې پوځ مخ په

کندهار بوت. تر دې مهال پورې کهندل خان په کندهار کې کلابند و. کله چې دوست محمد خان له کابل څخه ور ورسېد شاه شجاع د کابل او کندهار د دوو ځواکونو تر منځ ګیر راغی او په هغه جګړه کې، چې د کابل له پوځ سره یې وکړه، نیم پوځ یې تباه شو کیمپل هم تېښتې او ونیول شو. چې بیا مسلمان شو او د مسلمان کېدو په بدل کې خوشې شو. شاه شجاع ماتې وخوړه او د فراه خوا ته ولاړ او له شهزاده کامران څخه یې مرسته وغوښته، خو هغه رد ځواب ورکړ. هغه د سردارانو پوځونو تر بلوچستان پورې وخغلاوه، هلته د نصیرخان په کلا کې پټ شو. بلوڅانو هغه لودیانه ته وشاړه. د کندهار سردارانو د شاه شجاع له ماتې وروسته خپل ورور سردار دوست محمد خان ته اجازه ورنه کړه، چې د کندهار ښار ته ننوځي دا ځکه چې دوی ټول یو پر بل بدګومانه و. سردار دوست محمد خان په ډېر خپګان سره کابل ته راستون شو.

کله، چې دوست محمد خان له کابل څخه مخ په کندهار ته. جنرال هري سنګهـ له سکهـ لس زره عسکرو سره پېښور ته ننوت او سردار سلطان محمد خان، چې په مفته میدان بایللی و. جلال آباد ته راغلی و. کله چې دوست محمد خان په بریالیتوب سره له کندهار څخه کابل ته راغی. سلطان محمد هم کابل ته راغی. د دوست محمد خان په لاس د کندهار د نیولو خبر په ټول هېواد کې خپور شو او عمومي افکار د هغه خوا ته واوښتل. سردار دوست محمد له دې څخه ښه استفاده وکړه او په یوه لویه غونډه کې یې د پېښور د آزادولو خبره هم وکړه او د غاصبو کوپارو په وړاندې یې د مسلمانو مجاهدینو د پاڅون غږ وکړ، خلکو دده هر کلي وکړ او دنامتو مذهبي مشر میرواعظ زوی حاجي میر تر جهاد د مخکې هغه ته د امیري د نوم وړاندیز وکړ. په دې توګه سردار دوست محمد خان د افغانستان د پاچا په توګه غوره شو، خو سردار د خپلو ورونو له ویرې د پاچاهۍ نوم په ځان نه کېښود او د (امارت) عنوان یې ومانه. دا هغه عنوان او نوم و، چې هغه مهال لویو نظامي افسرانو ته کارول کېده او سپه سالار ته به یې امیرالامرا ویل. صدراعظم ته به امیر کبیر ویل کېده، په دغه ضعف سره، چې امیر له ځان څخه وښود، افغانستان یې د بهرنیانو په نظر کې د یوه سیمه ییز امارت نشین په بڼه معرفي کړ. وروسته تر شپاړس کالو فیوډالي اړ-دوړ څخه ورو ورو بیا د ملوك الطوايفي افغانستان دننه د یوه مرکزي دولت کوچنۍ زړی وکرل شو، خلکو د دښمن د شړلو لپاره له ختیزو ولایتونو څخه پینځه سوه زره روپۍ مرسته او لس زره سپاره او پنځوس زره پلي عسکر په خپله خوښه (داو طلب) امیر دوست محمد خان ته ورکړل.

## د محمد زايي دولت جوړېدل او د امير دوست محمدخان امارت (۱۸۳۴ – ۱۹۳۹)

د امير دوست محمد خان په واسطه او د هغه په مشرتوب د محمدزايي دولت جوړېدل ډېر په ساده او لومړني بڼه په یوه کوچنۍ اداره کې و، چې له هغه څخه مخکې دورو ته پرتله یې فقط په نوم خطبه او سکه کې توپیر شوی و، نه په سیاسي رژیم کې. په دې معنا چې هېواد لا اوس هم لکه د پخوا په شان له تجزیې او ویش سره مخامخ او د ملوك الطوايفي په بڼه اوسېد. شمالي جنوبي ختیز او لویدیز ولایتونه لکه د پخوا په شان خپلواك وو او امير دوست محمد خان خپل کوچني قلمرو د خپلو زامنو تر منځ

Scanned by CamScanner

وویش، هغه لکه د خپل پلار پاینده خان په شان د بر زیات اولادونه لرل. چې ۲۷ يې زامن وو لکه سردار محمدافضل خان، سردار محمداکبرخان، سردار محمداکرم خان، سردار محمداعظم خان، سردار محمدخان، سردار شیرعلي خان، سردار ولي محمدخان، سردار محمدامین خان، سردار غلام خان، سردار احمدخان، سردار محمد زمان خان، سردار محمد اسلم خان، سردار محمدشریف سردار محمد کریم خان، سردار محمد حسین خان، سردار فیض محمدخان، سردار محمدحسن خان، سردار سیف الله خان، سردار محمد یوسف خان، سردار محمد قاسم خان، سردار محمدعمر خان، سردار حبیب الله خان، سردار محمدرحیم خان، سردار نیك محمدخان، سردار محمدهاشم خان، محمد شعیب خان او سردار محمد عظیم خان. امیر دوست محمدخان په پیل کې ځان د لښکر د یوه داسې امیر په توګه باله، چې د خلکو له خوا یوائې د سکهـ او پنجاب د دولت د ماتولو او د افغانستان ختیزو ولایتونو د بېرته ترلاسه کولو لپاره انتخاب شوی. نو ځکه يې هم په خپله سکه کې دا بیت راوستی و:

امیر دوست محمد بعزم جنګ و جهاد
کـمر بست و بزد سکه ناصرش حق باد

نور نو نه کومه اداره وه او نه هم کوم وزارت، چې د یوه دولت لپاره د حساب وړ اداره وګرځي او نه هم داسې اقتدار و کوم، چې د یوه دولت لپاره په کار دي. د فیض محمد له وینا سره سم "امیر دوست محمد خان د ټولو لپاره د عرض اورېدو په خاطر کومه ټاکلې ورځ نه درلوده او هره ورځ به له لمانځه او تلاوت وروسته په یوه غونډه کې کښېناست او د هر ضعیف او ناتوان د حال احوال پوښتنه يې کوله. آن دا، چې یو شمېر ښځو او نارینه عرض کوونکو به هم په لاره هم د حرمسرای دروازه کې عرض کاوه او د عدالت غوښتنه به يې کوله او هغه به په خپله امسا ډډه ولګوله او د عدالت امر به يې ورکاوه. مالیات بې زیاتره د شهزاده ګانو او د قومونو مشرانو ته په جاګیر ورکړل او د سیمو مالیه يې د هغوی له حساب مجرا کول، تر څو چې په ۷۲ کلنۍ کې مړ شو[۱]. دا یوائې نه، چې امیر دوست محمدخان خپل کوچنی قلمرو د خپلو زامنو تر منځ ووېش، بلکې د کابل پوځ يې هم ډله ډله د خپلو مشرانو زامنو تر منځ وویش. امیر یوائې یو تن منشي، چې مرزا عبدالسمیع نومیده، درلود همده د حکومت ټولې چارې سمبالولې، نور هر څه د شهزاده ګان او فیوډالان وو، امیر دوست محمدخان امارت ته له انتخاب کېدو وروسته د خلکو د عامه فشار لاندې اړ شو، چې مخ په پېښور روان شي. هغه یو لوی پوځ چې پنځوس زره پلي او لس زره سپاره دا و طلب مجاهدین ورسره وو. دغه ځواکمن اردو په ۱۸۳۵ کې پېښور ته نتوت او د خیبر درې څخه هاخوا د شیخانو په سیمه کې تم او لښکرکوټ يې جوړ کړ. سردار سلطان محمدخان د امیر ورور له لس زره باجوړي مبارزینو سره د افغاني لښکر یوه برخه وه، دغه لښکر په پنجاب کې لویه وېره خوره کړه، سره له دې، چې له لاهور څخه د پېښور شا و خوا ته د سکهـ لښکر هم راغی، چې دفاع وکړي، خو رنجیت دا غوره وبلله، چې له افغان تازه دم پوځ سره روغه-جوړه وکړي، نو ځکه يې یو پلاوی راواستاوه، چې په هغه کې جنرال هارلان او فقیر عزیزالدین وو. هارلان ګومارل شوی و، چې په

---

۱. سراج التواریخ، دوهم ټوك ۲۵۰ مخ.

Scanned by CamScanner

هر ډول چې کېږي بايد افغاني لوی اردو کې نفاق واچوي. نو تر هر څه مخکې د امير ورور سردار سلطان محمدخان ته يې پام شو، چې مخکې د سکهـ په څواك سره د پېښور له حکومت څخه بې برخې شوی او څو ځله يې له امير دوست محمد خان او سيد احمد بريلوي سره د جګړو پر مهال د پنجاب د سکهـ خوا نيولې وه. هارلان په دې هکله ليکي: ما په آسانۍ سره وکولای شول، چې د پېښور او د ورکولو په وعدې سره سلطان محمد خان قانع کړم او هغه له لس زره عسکرو سره له ميدان څخه وباسم. په دې توګه سلطان محمد خان د شپې لـه خوا لـه افغاني اردو څخه جلا او د دښمن اردو تـه ورغی او خپل لس زره عسکر يې شاته بوتلل.(۱)

هغه د خپل دغه خدمت په بدل کې د سکهـ له دربار څخه د رهتاس د کلا حکومت ترلاسه کړ. امير دوست محمد خان، چې دا حال وليد . پرته له لږ ټينګار څخه يې ميدان پرېښود او چوپه خوله بې له څنډه مخ په کابل راغی. د امير او ده د ورور دا ډول چلند هم پنجاب او هم افغانستان حيران کړل.

دا يواځې نه، بلکې امير دوست محمد خان د ۱۸۳۲ کال په پسرلي کې د هند ګورنر جنرال لارد اکلند ته ليك واستاوه او هغه ته يې د هغه د دندې مبارکي ويلې وه او په دې ترڅ کې يې له هغه څخه دا سلا هم غوښتې وه، چې د افغاني پېښور پر سر د پنجاب لـه سکهـ سره د شخړې پـه برخـه کې کومه لاره غوره کړي. دغه ليك انګرېزان د افغانستان پـه چارو کې پـه رسمي توګـه لاسوهنې تـه وهڅول: اکلند خو په ځرګند ډول ځواب ورکړ، چې پـه هند کې د انګليس موخـه سوداګريزو ترقي ده، نو د کوم دولت په کورنيو چارو کې لاسوهنه نه کوي، خو د سوداګريزو چارو پـه برخـه کې د خبرو-اترو لپاره بـه يو پلاوی افغانستان ته واستوي. په کندهار کې د امير ورور سردار کهندل خان کټ مټ همداسې کار پـه سرچپه توګه ترسره کړ. کله چې هغه واورېدل، چې له امير سره انګرېزي پلاوي خبرو-اترو ته راغلي، ايران ته يې مخ واړاوه او د افغانستان پـه چارو کې يې د هغوی د لاسوهنې هيلـه وکړه. ډېر ژر د ايران او روس استازي ددغې هيلې د بشپړولو لپاره کندهار ته را ورسېدل په هر حال، امير دوست محمد خان، چې په کابل کې د انګرېزانو پلاوي ته په تمه ناست و، ډېر ژر يې د عامه خلکو هغه ناخوښي احساس کړه چې ده د ناکامه بېرته راتګ له امله پيدا شوې وه. نو ځکه يې د خپل حيثيت د بېرته ترلاسه کولو په خاطر له سکهـ دښمن سره د بيا ځلي جهاد پـه نوم نظامي چمتووالي ته ملا وتړله، خو تر دې مهال پوزې د پنجاب حکومت دومره زړور شوی و، چې آن پر جلال آباد يې د بريد خطر رامنځته کړی و، نو امير اړ شو، چې د عامه افکارو تر اغېزې لاندې د خپل ورور نواب عبدالجبار خان تر مشرۍ لاندې يو لښکر د پېښو په لوري واستوي. د امير زامن سردار محمد افضل خان او سردار محمد اکبرخان هم پـه دغه لښکر کې وو. افغاني ځواکونه د ۱۸۳۷ کال د می په مياشت کې د خيبر د جمرود کلا ته ورسېدل او سکهـ ځواکونه يې کلابند کړل. د پنجاب د منظم پوځ سپه سالار (هري سنګهـ) چې د پېښور والي هم و، پـه بيړه له پېښور څخه جمرود ته راغی او د افغانانو او سکهانو جګړه پيل شوه. دغه جګړه دولس ورځې اوږده شوه او په پای کې د هري سنګهـ بريدونو افغاني سردارانو سره نواب عبدالجبار ته، چې د پوځ عمومي قوماندان و

---

۱- قاضي عطاالله، لومړی ټوك، ۲۲۲ مخ.

ماتې ورکړه او په دې ډله کې سردار شمس الدین خان هم و. یوه افغاني افسر، چې یو امر لاندې ټیټ رتبه افسر و ملا اسمعیل نومېده، چیغې کړې: ای سرداره! اسلام دې غرق کړ وراندې ورځه[1]، خو په داسې یو مهال کې د لومړي خل لپاره د ځوان محمد اکبر خان زړورتوب وځلید. هغه د شا له صفونو څخه مخ په وړاندې ولاړ او له مجاهدینو سره یو ځای یې د دښمن د اردو په منځ کې یرغل وکړ. د دښمن د پوځ سپه سالار هري سنګهـ د مخنیوي هڅې وکړې، خو سردار محمد اکبرخان د توري په زرپ هغه له زین څخه ښکته ګوزار کړ. د دښمن چیغې پورته شوې او د افغاني اردو بریدونو د سکهـ سپاهیان پسې واخیستل.

دښمن له خپل منظم پوځ او ځواکمنو توپونو سره دومره ویرېدلی و، چې فقط د پېښور په بالاحصار کې نم او دمه یې جوړه شوه. په همداسې ډېرو حساسو شېبو کې، چې افغاني اردو غوښتل د لوارګي په کلا او خپله په پېښور باندې بریدونه وکړي. او سکهـ ځواکونو غوښتل، چې پېښور پرېږدي نواب عبدالجبار خان د افغاني پوځ پر تودو احساساتو سړې اوبه واړولې او د افغاني اردو د پرمختګ د درولو امر یې وکړ. هغه په لیکلي توګه مخ په پېښور د افغاني پوځ د پرمختګ په هکله له امیر دوست محمد خان څخه د هدایت غوښتنه وکړه. امیر په بېړه پرته له دې، چې خپل ولس سره مشوره وکړي د فاتح پوځ د بېرته راستنېدو امر ورکړ. په دې توګه د افغاني بریا لیو مجاهدینو تویې شوې وینې بې پایلې پاتې شوې. د همدغه کال په مني (د ۱۸۳۷ په سپتمبر) کې یوه انګلیسي پلاوي د سر الکساندر برنس[2] په مشرۍ د دسمبر په پای کې کابل ته راغی، چې په هغه کې میجرلیج او لفتننت ووډ او ډاکتر لارد او منشي موهن لال غړي وو. دوی امیر دوست محمد خان سره خبرې-اترې وکړې. یوه میاشت وروسته د ایران قاجاري پوځ د روس د زاري دولت په ملاتړ په هرات برید وکړ. دوه میاشتې وروسته د روس دولت پلاوی ویتکویچ کابل ته راغی. په دې توګه د ۱۸۳۷م. کال نظامي او سیاسي پېښو د امیر دوست محمد خان دندې ډېرې ستونزمنې کړې. برنس د هند د ګورنر جنرال لیك امیر ته وسپاره، چې داسې پیل شوی و:

فورت ویلیم
دمی ۱۵مه- ۱۸۴۷

وروسته تر سلام څخه:

د ۱۸۳۶ کال د اګست د ۲۲مې نېټې په لیك کې مې د هند او افغانستان تر منځ د سوداګریزو خبرو-اترو لپاره او ددغه اړیکو د پراختیا او آسانۍ په هکله د یو پلاوي په لېږلو سره تاسو ته لیکلي و، چې تاسو څخه پټه نه ده، چې سوداګري د ملتونو تر منځ یوه ثمره لرونکې پېښه او د ژوند لپاره د اړتیا

1. سراج التواریخ، لومړی ټوك ۱۲۲ مخ.
2. سر (sir) په انګلیسي کې د جناب صاحب یا محترم په معنا ده، چې د ځینې نومونو په پیل کې راغلی. دلته هم له سر الکساندر برنس څخه موخه هماغه الکساندر برنس دی، چې پخوا یې یادونه شوې وه. وروسته بیا سر په اردو او هندي ژبو کې هم عمومیت وموند مثلاً نامتو هندي سرسید احمد یعني جناب سید احمد (ژ.)

Scanned by CamScanner

دپوره کولو بنسټ دی. د بریتانیا حکومت له آسیایي او ګاونډیو هېوادونو سره د سوداګرۍ د پراخښت او د سولې او امن غوښتونکی ده، نوځکه د سند د دوو غاړو حکومتونه د سند درياب د بیړۍ چلولو لپاره په آزاده بڼه غواړي. د همدې لپاره مې سر الکساندر برنس در ولېږه، چې زما لیک تاسې ته وسپاري او د هندوستان او افغانستان تر منځ د سوداګرۍ د آسانتياوو په برخه کې تاسې سره خبرې وکړي. په ډېره هيله غواړم، چې ستاسې دربار کې درنښت سره ومنل شي او د دواړو خواوو خبرې اترې ګټورې ثابتې شي."

د انګليس پلاوي د اکلند لیك برخلاف د سوداګرۍ په هکله یو ټکی هم ونه وایه، بلکې ټولې خبرې یې سياسي وې. هيئت غوښتل، چې افغانستان هېڅکله سياسي یووالی ترلاسه نه کړي، هرات، کابل او کندهار یو بل څخه جلا او هر یو یې جلا جلا د انګليس تر هدايت او ملاتړ لاندې وي او پېښور هم د سکهـ تر واك لاندې پاتې شي. له دې پرته انګليس په دې باندې خبر و، چې ایران غواړي پر هرات برید وکړي. غوښتل یې چې کابل او کندهار ددغه برید په شنډولو کې مرسته وکړي او انګليس به په دې برخه کې امیر دوست محمد خان او کندهاري وروڼو سره مالي او نظامي مرسته وکړي. خو دا ټولې نقشې د لنډ وخت لپاره او ډېرې برسيرنې وې، تر څو ایران او د هغه ملاتړی روس له هرات څخه په شا شي. او له دې وروسته به د انګليس د دايمي او اصلي نقشې وار راورسېږي. انګليسانو په کلکه غوښتل، چې خپلې پولې يعنې د هند سرحدات د آمو تر سيند پورې ورسوي او که دا امکان ونه لري، سمدستي يې د هندوکش تر غرونو پورې راوغځوي. نو ددې موخې لپاره یې لا د مخه په پام کې نيولې وه، چې محمدزايي وروڼه په کابل او کندهار کې له منځه یوسي او په افغانستان کې یو لاسپوڅی پاچا کېنوي او لکه د هند په شان يې پوځ او نورې چارې په لاس کې واخلي. له همدې لامله کلادويد له ډېرې مودې راهيسې په لوديانه کې شاه شجاع سره اړيکې ساتلې او هغه یې دغه کار ته چمتو کاوه. لا دغه نقشه نه وه، بشپړه چې د ایران برید پر هرات باندې ترسره شو، نو انګليس اړ شو چې سمدستي د دفاع لپاره محمدزايي وروڼه استعمال کړي. همدا و، چې برنس په کابل کې او ولیچ په کندهار کې او يا پاتنچر په هرات کې په فعاليت بوخت شول. د انګليس ددغه فعاليت په وړاندې د روس ديپلوماسي هم په کار ولويده، ایران پر هرات برید ته اړ شو او ويکتوويچ هم کندهار او کابل ته راورسېد.

د کندهار سرداران له کابل څخه مخکې د کنت سيمونچ په لومه کې ولويدل او د هغه قرارداد په واسطه، چې د روس د دولت له خوا د سيمونچ په واسطه راوړل شوی و، کندهار له ایران سره یو لاس کېدو ته غاړه کېښوده او هرات باندې د ایران په برید کې یې برخه واخیسته او څلور زره سرتيري يې ور ولېږل. انګليس چې له کندهار څخه مات زړه شول، نو د خپل سياسي فعاليت مرکز يې کابل وګرځاوه. خو امير دوست محمد خان ددې پر ځای، چې له هرات څخه دفاع وکړي، له برنس څخه يې وغوښتل، چې خپل ملګري سکهـ حکومت اړ کړي، چې پېښور بېرته افغانستان ته ورکړي. برنس دغه خبر ونه منله او د پنجاب د سکهـ د دولت د ځواك او اتحاد څخه یې خبرې کولې او ويې ويل، دا چې دا رنجيت تر اوسه پورې د جمرود د ماتې غچ نه دی اخيستی او یا یې هم په پېښور کې سردار سلطان محمد خان ته جاګير

او د هغه ورونو ته اقطاع ورکړې ده دا تول د انګلیس د دوستانه توصیې له مخې دي. امیر دوست محمد خان ویل، چې رنجیت د زمانشاه نوکر دی او پېښور یې هغه وخت ونیو، چې زه په کندهار کې له شاه شجاع څخه په دفاع بوخت وم. دا چې سردار سلطان محمد خان په پېښور کې جاګیرلري ددې لامل دا دی، چې هلته دده شتون زما لپاره د پنجاب د سکهـ له حکومت څخه هم زیانمن دی. دا ځکه چې هغه د سلطاني په جامه کې د سکهـ لاسونه زما د هېواد تر پلازمینې پورې رارسوي (۱)

د برنس او امیر دوست محمد خان خبرې لا پای ته نه وې رسېدلې. چې په هرات باندې د ایران برید ترسره او ویتکوویچ هم کابل ته راورسېد. امیر دوست محمد خان له ویتکوویچ سره ډېر عادي چلند وکړ او په دې برخه کې د اکلند فیصلې ته په تمه پاتې شو. کله چې برنس دا حال ولید، د امیر دوست محمد خان غوښتنو ته یې ارزښت ورکړ او اکلند ته یې خپل نظر ولیک. او امیر هم وعده وکړه، چې دده د وړاندیز په منلو سره به له هرات څخه د دفاع په برخه کې کارنده برخه واخلي. خو لارډ اکلند، چې د لندن د نقشې د پر مخ بیولو په برخه کې بوخت و. د برنس او امیر دوست محمد خان وړاندیزونو ته یې غوږ ونه نیو او د امیر دوست محمد خان بې قید او شرط اطاعت یې غوښت، چې امیر دغه غوښتنه نه منله. نو ځکه یې خپل پام، د روس استازي خوا ته واړاوه. دغه شخص چې د بل چا له جیب څخه بخشش کاوه، نو په پوره سخاوت سره یې د پېښور د بېرته ترلاسه کولو لپاره د روس د دولت د مرستې ژمنه وکړه او ډېر سره او شنه باغونه یې ورته وښودل. همدا رنګه نوموړي د روس د زار یو دوستانه لیک، چې د امیر دوست محمد خان په نامه لیکل شوی و. امیر ته ورکړ. امیر دوست محمد خان لکه د خپلو کندهاري ورونو په شان د روس په دغو ژمنو باندې وغولېد او په دوی باندې یې باور وکړ. خو هغه د خپلو کندهاري ورونو برخلاف له ایران او روس سره هېڅ ډول قرارداد ونه کړ او له برنس سره یې کرل ربیل او د حالاتو څارنه یې کوله. چې څه پېښېږي اکلند د ۱۸۳۸ کال په اپریل کې وروسته تر اتو میاشتو خبرو-اترو او څارنې څخه د برنس له خوا کابل څخه هند ته وغوښتل شو. ویتکوویچ هم ظاهراً بریالی له کابل څخه ووت، خو د انګرېزانو په سر کې چې د ټولې نړۍ د نیولو فکرونه وو. هود یې کړی و، چې دغه هېواد به خامخا نیسي نو برنس هم د ۱۸۳۸ په اپریل کې له کابل څخه هند ته احضار شو، چې دوه میاشتې وروسته یعنې د ۱۸۳۸ کال په جون کې د انګرېز شاه شجاع او رنجیت تر منځ درې اړخیزه تړون لاسلیک شو له دې څخه یوه میاشت وروسته (د ۱۸۳۸ په جولایي کې) کنت سیمونیچ د روس سفیر، روس ته د انګلیس د یادداشت سره سم. له ایران څخه روسیې ته احضار شو او یوه میاشت وروسته محمد شاه قاجار او د ایران د دولت اردو د هرات د خلکو د میړنۍ مبارزې په پایله کې او په ایران کې د انګلیسي سمندري ځواك د ګواښ له امله د ۱۸۳۸ کال د سپتمبر په نیمه د هرات کلابندي پرېښوده او ایران ته ستون شو په دې توګه په افغانستان کې د ایران او روس ګواښ له منځه ولاړ. امیر دوست محمد خان هم وویل. چې نوابه د پېښور د بېرته ترلاسه کولو په هکله خبره هم ونه کړه سره له دې هم له دغو پېښو څخه یوه میاشت وروسته انګرېزانو په کلکته کې یوه عجیبه اعلامیه خپره کړه (د اکتوبر په

۱- قاضي عطاالله لومړی ټوك. ۲۷۱ مخ

لومړی، او په دغه درواغجنه اعلامیه کې یې لیکلي و، چې:

«... د کابل امیر کابل ته د برنس له سفر څخه مخکې پرته له دلیل څخه پر رنجیت برید کړی و، د کابل او پنجاب تر منځ د برنس منځګړیتوب هم کومه پایله نه لرله. ایران د کندهار له سردارانو او له امیر سره په توطئه بوخت و. امیر نامعقوله غوښتنې کولې او په خپلو مغزو کې یې د پراختیا غوښتنې فکر درلود او د انګریز استازي ته یې رخصت ورکړ، نو ځکه د هند حکومت عملیاتو ته اړ شو، دا ځکه چې ایران له سند څخه د پورې غاړې فکرونه لري، په ایران کې د انګلیس هڅې ناکامې شوې دي او ایران سره اړیکې شلېدلي دي هرات کلابند دی. بارکزي سردارانو له سدوزیو څخه حکومت نیولی دی او ملت ته د منلو وړ نه دي، د دوی تر منځ نفاق روان دی. دوی انګلیس ته ګټور ملګري نشي کېدای او زمونږ د نا آرامۍ فکرونه په سر کې لري. نو ځکه مونږ اړ یاستو، چې اقدام وکړو او د نوښت لپاره مو شا شجاع په پام کې نیولی دی، چې د هغه محبوبیت ثابت دی. مکناټن رنجیت ته ورغی او د مثلث قرارداد (دري اړخیز تړون) لاسلیك او مسایل ډېر ښه حل شول. د سند او هرات خپلواکي مو له شاه شجاع سره فیصله او تضمین کړه او ډاډه یاستو، چې په دې توګه به په منځنۍ آسیا کې د انګلیس مشروع نفوذ(؟) خوندي او سوداګري به سمه او د هند پولې به آرامه شي. شاه شجاع به د انګلیس د لښکر په مرسته په خپل پلرني تخت باندې کښېنول شي او د انګلیس د نیول شویو سیمو د ډاډمن کېدو تر څنګ به د افغان ملت یووالی هم ډاډمن شي.

په دې توګه د انګلیس حکومت په دغه ډول بهانې سره د لومړي ځل لپاره پر افغانستان باندې یرغل وکړ او ویې ویل، چې امیر دوست محمد خان پخوا په ۱۸۳۷ کې د روس زار ته یو لیك لېږلی و او له هغوی څخه یې د پېښور د بېرته ترلاسه کولو په برخه کې مرسته غوښتې وه، په داسې حال کې چې امیر دوست محمد خان هېڅکله هم د روس زار ته کوم لیك نه و لیکلی او که یې لېږلی هم وای، دا یې خپل مسلم حق و. د روس د بهرنیو چارو وزارت هم د ۱۸۳۸ په اکتوبر کې د امیر دوست محمد خان له خوا د دغه ډول کوم سیاسي مکتوب لېږل د انګلیس د حکومت د پوښتنې په ځواب کې رد کړي و. له همدې لامله فریر لیکلي وو، چې:

"په آسیا کې ډېر درواغجن اسناد استعمال شوي دي او انګریزانو په هند کې د راجه ګانو او نوابانو په مطیع کولو کې ډېرو داسې لاسوندوی ته لاس اچولی دی."[1]

---

[1]. قاضي عطاالله، دوهم ټوك، ۲ مخ

# پینځم

## د انګلیس د دولت یرغل او د افغانستان د خلکو مبارزه (۱۸۳۹-۱۸۴۲)

### د انګریزانو یرغل

په منځنۍ آسیا کې انګریزانو غوښتل، چې مخکې له دې چې د روس دولت په منځنۍ آسیا کې د آمو تر سیند پورې ورسېږي، په خپله د آمو تر غاړو پورې ځان ورسوي، نو کله چې ایران له هرات څخه په شا شو، د ۱۸۳۸ په اکتوبر کې د کلکتې اعلامیه خپره شوه، حال دا چې د لاهور درې اړخیز تړون له دې نه مخکې د همدې کال په جون کې لاسلیک شوی و. نو ځکه د هندوستان ګورنر جنرال اکلنډ د سفر برې امر صادر کړ او په لاندې ډول یې یو لوی لښکر په افغانستان باندې د برید لپاره وګوماره:

✓ د بنګال دویژن (چې څلور غونډونه او ۹۵۰۰ نفره یې لرل، د میجر جنرال سر ډبلیو کاټن په قوماندانۍ)

✓ د ممبئ دویژن (چې درې غونډونه یې لرل، د لفټننټ جنرال سرجان کین په قوماندانۍ) سره له ۵۲۰۰ تنو.

✓ د ریزرو میجر جنرال دنکن ۴۳۵۰ کسیز لښکر.

✓ د ممبئ ریزرد ۳۰۰۰ کسیز لښکر.

✓ د شاه شجاع ۶۰۰۰ کسیز لښکر.

✓ د شاه شجاع د زوی شهزاده تیمور ۴۸۰۰ کسیز لښکر (له ۵۴ توپونو، ۸۰۰ توپچي او ۳۴۰ توانجنیرانو سره، چې د سند له لارې د حرکت قومانده ورکړل شوه).

✓ د سکهـ ملاتړ کوونکي ۱۵۰۰۰ کسیز لښکر (له ۱۲ توپونو ۱۴۰ توپچي او ۲۵۰ تنو انجنیرانو سره، چې د خیبر له لارې د حرکت قومانده ورکړل شوه).

د دغه لښکر ټول شمېر ۵۴۱۵۰ تنه کېده، چې ورسره ۱۲۰۰۰ د لوازمو کار کوونکي او ۳۰۰۰۰ اوښان بار وو. د نظامي تاریخ متخصص جیمز هنټ د (د نن ورځې د څېړنو پر بنسټ تاریخ) د مجلې د ۱۹۵۹ کال د اکتوبر په ګڼه کې د انګریزانو امپراتورۍ د دغه اردو د تجهیزاتو په هکله لیکي:

د انګریزانو هر جګړه مار یو نوکر درلود. هر پیل دوه مهتران او هر سپاه دوه سقاو او لس د اوښانو باروونه لرل، هر اس هم یو مهتر درلود او هرو شپاړسو سرتېرو یو ډوډۍ پخوونکی درلود او هر دریو اوښانو ته یو ساروان مقرر و. په دغه لوی اردو کې لا نور خلک هم مقرر و لکه ژرند ګري، وچه ډوډۍ پخوونکي، قصابان، د خیمې دروونکي، کسبه کاران او پلورونکي او نور.

خو هر انګرېز افسر ته د انګرېزانو هر افسر لس اوښان يو ګاوميښې ارابه، پينځه د سپرلۍ آسونه، درې سنډاګان او څلوېښت تنه نور عمله او فعله درلودل(۱) وروسته بيا انګرېزي ښځې هم له يو شمېر غلامانو او وينځو سره په ډېر تجمل سره په تخت روان کې د افغانستان ميلمستون ته ننوتې. د افغانستان له لارې څخه ددې ستر اردو تيرېدل د ملخانو د هغه لښکر په شان و. چې له خپلې مخې سره يې هر څه تباه کړل. دوی به چې په هر ښار او کلي ورغلل کومه آذوقه بوتې او يو ډکی يې هم پرې نه ښود انګرېزانو غوښتل. په دغه ډول اردو سره د خيبر له لارې جلال آباد ته ننوځي او بيا له هغه ځايه مخ په کابل ورشي خو دهغوی تالي ځتې رنجيت سنګه. چې دا حال وليد، په خپل قلمرو کې د انګرېز د داسې لښکر له تېرېدو څخه وويرېد او د هغوی تېرېدل يې ونه منل، انګرېز اړ شول، چې له يوې لرې لارې څخه. چې له ستونزو ډکه وه، يعنې د اندس له لارې مخ په شکارپور ورغلل او بيا کندهار ته ور تېر شول.

رنجيت سنګه يواځې شهزاده تيمور پرېښود. چې له خپل سپور او پلي بوځ سره له پېښور څخه د خيبر په لاره افغانستان ته ولاړ شي. دا مهال رنجيت سنګه لس زره سرتېري د پنجاب له مسلمانانو راټول او د خپل زوی کنور نونهال سنګه تر مشرۍ لاندې يې لښکر ورڅخه جوړ او پېښور کې يې تيمور ته واستاوه. کلاويد د انګليسي سياسي مامور او د تيمور مؤکل د شهزاده تيمور تر نوم لاندې له افغانانو څخه يو لښکر جوړ کړ، تيمور دوه مياشتې په پېښور کې په نظامي چمتوالي او کلاويد په سياسي چارو کې بوخت پاتې شو. همدا رنګه د انګرېز ټول پوځ د ۱۸۳۹ کال د جنوري په شلمه د سندغاړو ته را ورسېدو، هلته يې پول وتاړه او د فروري په مياشت کې له سند څخه راپورې وتل او په شکارپور کې له شاه شجاع سره يو ځای شول او مکناټن د انګرېز سياسي استازي سياسي فعاليت پيل کړ. ويليام مکناټن(۲) په خو ژبو باندې پوهېده، هغه په پيل کې د هند د کمپنۍ د سواره نظامي يو نطاق سړی و، چې وروسته بيا په ملکي برخو کې ورته دنده ورکړل شوه، هغه په لارد اکلند باندې ژوره اغېزه لرله، چې اوس شاه شجاع سره د انګرېز د استازي او سياسي سفير په توګه وګومارل شو.

انګرېزانو لا مخکې په افغانستان کې د دغه ډول تخريبي او تبليغاتي فعاليتونو لپاره لاره ښه پوره هواره کړې وه. د هغوی د جاسوسۍ ځانګو ښه پراخه کار کړی و او د هېواد له ناوړه سياسي ګډوډۍ او ټولنيزو شرايطو څخه يې اعظمي استفاده کړې وه. هغه داسې چې: د ابدالي مرکزي دولت له پرځېدو او نړېدو څخه وروسته او د محمدزايي ورونو د رامنځته کېدو او د فيوډالي سياليو او جګړو د اور په لګېدلو سره د افغانستان ملت د ملوك الطوايفي تر پښو لاندې دل شو. ولس له دغه ډول رژيم څخه په تنګ و، د هېواد بزګرانو او ښاروي روزونکو خواريکښانو يو مرکزي دولت غوښت او د تير ابدالي دولت ارمان ورته او راتلونکي ته يې هيلې وې. همداسې هم د هېواد غتو ځواکمنو فيوډالانو، چې وليدل، چې هېواد يواځې د څو محمدزايي ورونو تر منځ ويشل شوی دی، له دې ويش څخه خپه وو. دوی يو بل داسې فيوډالي مرکزي دولت غوښت، چې ټولو فيوډالانو ته په يوه نظر وګوري، څکه دوی

۱- د ع. م. عامري ژباړه، د ايران د سخن مجلې چاپ
۲- W.H. Macnaghten.

محمدزايي ورونو تر اغېزې لاندې کېل. غېو روحانيونو ته هم له محمدزايي ورونو څه نه ور خان د محمدزايي ورونو تر اغېزې لاندې کېل. نو دوې هم يو بډاى او شتمن مرکزي دولت غوښت. له بلې خوا انګرېزانو سره شاه شجاع د يوې رسېدل، نو دوې هم يو بډاى او شتمن مرکزي دولت غوښت. له بلې خوا انګرېزانو سره شاه شجاع د يوې ((خبرې)) په توګه موجود و، (خبره له ختې يا لرګي څخه هغې جوړې شوې مرغاوې ته وايي، چې ښکاريان ١ يې د سارايي مرغاويو د کوزولو په خاطر د ښکار په ډنډ کې جوړوي) نو انګرېزانو غوښتل په شاه شجاع باندې خلك راټول کړي او خلك په دروغجنو خبرو وغولوي. ددې موخې لپاره يې په سلګونو اعلانونه د شاه شجاع په لاسليك په ټول هېواد کې خپاره کړل. په دغو اعلانونو کې په ښکاره سره ويل شوي وو، چې د افغانستان د سلطنت حقيقي او شرعي وارث اعليحضرت شاه شجاع د غازي احمدشاه بابا لمسى دى او محمدزايي ورونه د تاج او تخت غاصبان دي. په دغه اعلاميه کې دا هم راغلي و، چې دا دى اوس د افغانستان د تاج او تخت اصلي وارث له خپل لښکر سره د سلطنت د نيولو په خاطر را روان دى او د انګليس د حکومت لښکر چې تر اوسه پورې دده کوربه و. د شاه په خدمت کې حاضر شوى دى. تر څو په موروثي تخت باندې د هغه کښېناستل ووينې او هغه ته مبارکي ووايي. وروسته به دغه دوست پوځ له هېواد څخه وځي او هندوستان ته به ستنېږي. دغې اعلاميې ټولو ولسي مشرانو، فيوډالانو، خانانو او افسرانو سره داسې ژمنه کوله، چې همدا چې پاچا پر تخت کيني. نو دوى ته به نوې رتبې، اقطاع او معاشات ورکول پيل شي. يواځې دا نه. بلکې انګرېزانو په افغانستان کې د خپل بشپړ نظامي ځاى پر ځاى کېدو تر وخت پورې ډېرې هڅې وکړې، چې د افغانستان خلکو ته شاه شجاع د خپلواك پاچا په توګه او انګرېزي لښکر د هغه د فرمانبردار په توګه او د څو ورځو د لنډې مودې ميلمه وښيئ. له همدې امله و. چې د انګليسانو استازي د بلوچستان د والي مهراب سره په خپلو خبرو کې هر څه چې ويل. نه يې د افغانستان د پاچا شاه شجاع له‌لوري ويل. همدا رنګه کله چې دوى کندهار ته را ورسېدل او د شاه شجاع د تاج پوشۍ په ورځ يې د پاچا د تېرېدو پر مهال سلامي توپونه وويشتل او د انګلستان بيرغونه يې د تعظيم په بڼه کاږه کړل. کله چې پاچا پر تخت کښېناست يو ځل بيا د توپ ١٠١ ډزې وشوې، دا مهال د زرګونو افغانانو په وړاندې او د افغاني ټولو مشرانو او افسرانو په مخکې د انګليس د اردو سپه سالار جنرال کين او مکناټن د انګليس د سفير په توګه پاچا ته وړاندې شول او د انګليس د دولت له خوا يې پاچا ته مبارکي وويله او د خپل دولت له خوا يې يو څه سوغاتونه پاچا ته ورکړل. کټ مټ همدا لوبه انګرېزانو پېښور کې هم ترسره کړه هلته کلاويد د خلکو د دوکه کولو په خاطر او د نتيزو خپلواکۍ پالونکو سرسختو خلکو د تيرو ايستلو په موخه يوه لويه غونډه جوړه کړه، چې په دغې کې ګڼ شمېر خلکو افغاني افسرانو، قومي مشرانو او ټولو نورو ملکي او نظامي مامورينو او پنجابي او اروپايي مامورينو برخه واخيسته او هلته يې تيمورشاه او د هغه پيشکار ملا عبدالشکورخان په وريښمين تخت باندې کښېنول او زربفت جامې يې ور واغوستې دوو خواوو ته يې د عسکر، مامورو او افسرانو صفونه وتړل او بيا نو د پنجاب انګليسي او فرانسوي افسران مخې ته ورغلل او شهزاده ته يې مبارکي وويله او درناوى يې پر ځاى کړ.

شهزاده په دغه غونډه کې دده دربار ته راغليو قومي مشرانو، افغاني افسرانو او مامورينو ته په خپل

لاس انعامونه او سوغاتونه وویشل لکه کشمیري شالونه. چینې او امریکایي توپکونه او نور بدي توکه خلکو د خپل پاچا زوی په پوره پرتمین حالت کې ولید. په تېره بیا په دغې غونډه پسې غولونکې اعلامیه خپره شوه. په دغه اعلامیه کې راغلي و، چې شاه شجاع به د افغانستان له نیولو وروسته یواځینی او خپلواك پاچا وي او د انګرېز د پوځ له لېږلو څخه موخه داده، چې د شاه شـ وروري سلطنت ور کلك کړي کوم، چې باغیانو ورڅخه غصب او نیولی و.

تر دې ځایه پورې د افغانستان دنیولو په موخه د انګرېز د سیاسي او نظامي فعالیتونو د ظواهرو بېلګې ښکاره شوي، خو یو بل ډول پټ فعالیت یې هم درلود. چې هېواد یې په دننه کې د انګرېزانو په ګټه له چاودون سره مخامخ کاوه. دغه چاودونکي فعالیت په افغانستان کې دننه د انګرېزانو مغدر جاسوسي کارونه وو، چې په افغانستان کې یې د ښکېلاك د پرمختګ لپاره لاره هواروله او لوی فیوډالان یې په پیسو سره د انګرېز په چوپړ کې ګومارل. د بېلګې په توګه: مستر لارډ، چې په جلال آباد باندې له سوقیاتو څخه مخکې د شاه شجاع په پلوي خلکو ته بلنه ورکوله او په پېښور کې یې خانان ورته بلل، همدغه انګرېزي پولیټکل اجنټ تخارستان او بلخ ته واستول شو او هلته یې خلك د امیر دوست محمد خان په وړانډې، ولمسول او د شاه شجاع د ملاتړ په خاطر یې بلنه ورکړه. لفتننت میکسن همداسې یوې دندې په خاطر کوهاټ کې وګومارل شو او کیرن بیا باجوړ ته ولېږل شو. همدا ډول یو ملي خاین د غلام خان پوپلزایي په نوم و، چې مخکې پروان، کابل او کاپیسا ته استول شوی و، تر څو مخور او عام خلك د شاه شجاع پلویتوب ته راوبولي او د امیر دوست محمد خان په ضد یې وپاروي. دغه سړی ډېره موده کېده، چې د انګرېزانو د جاسوسي چارو لپاره استخدام شوی و او یو ځل د ناروغی او درملنې په نامه هندوستان ته هم تللی و هلته یې د لودیانه پولیټکل ایجنټ کلاوید او په ډیلي کې له ویلیام فریزر سره پټې خبرې کړې وې او کله، چې د برټش هیئت په کابل کې و، هغه سره یې هم لیده کاته کړي او ژمنه یې ورسره کړې وه. چې خلك به د امیر دوست محمد خان په ضد پاڅوي، کله چې مکناټن په کندهار کې او دیوید په پېښور کې و. یو ځل بیا نوموړی له دوی سره لیکونو کې خبرې ولېږلې راولېږلې، انګرېزانو ملا غلام ته په کابل کې د یوه هندي صراف پهوکر په نوم د څلوېښت زره روپیو حواله واستوله هغه په دغو پیسو سره په کابل او کوهستان کې خلك او نور مخور بې لارې کړل. حال دا، چې دا خلك په خپله د سدوزایي دولت پلویان او د محمدزیو په مخالفت کې وو. په دې مخورو کې ځینې لاندې کسان وو: د نامتو روحاني میرواعظ زوی، حافظ جي او د کابل او کوهستان مرشد نامتو ملي مبارز میر مسجدي خان، میرزا خواجه خان، خلیفه ابراهیم، میرسکندرشاه خان، سیف الدین خان، ملك عیسی خان او نور سره له دې، چې امیر دوست محمد خان دغه پېښه کشف کړه او ملا غلام او پهوکر دواړه یې ونیول او بندیان یې کړل، خو همدا چې امیر له کابل څخه وتښتید، ملا غلام لا مخکې د ښځو په جامو کې په خره سپور له کابل څخه وتلی و او په تګاو کې یې د هغه ځای یو نامتو مخور شهداد خان د امیر په ضد لمسولی و. دغه مخور سړی له یو شمېر پلویانو سره یې د شاه شجاع په خاطر شعارونه ورکړل او کابل ته راغی، کله چې انګرېزان او شاه شجاع له منځه ولاړل، دغه ملا غلام هند ته

Scanned by CamScanner

وتښتېد او هلته په لودیانه کې مېشت شو. هلته یې په بېوزلۍ کې ژوند تېر کړ او د ناروغۍ په حالت کې د انګرېزانو ورته هېڅ پام ونه کړ تر څو، چې مړ شو او کورنۍ یې په یوه ډېر بد حال کې هندوستان کې پاتې شوه، دا ځکه چې نور نو انګرېزانو هغه ته کومه اړتیا نه درلوده او د هند او انګلیس بودیجې دغو خلکو ته نور مفته پیسې نه ورکولې. انګلیسانو دا غوره بلله، چې خپل سیمه ییز جاسوسان د هغوی د خپلو هېوادونو په خپلو حسابونو تغذیه کړي. البته د انګرېز په ملاتړ دغه پیسې به د هماغه مراد وي، چې دوی خیانت ورته کوي.

یو شمېر دغو جاسوسانو ښه اشرافي ژوند هم وکړ، کله چې پوه شول، چې انګرېزان د همدغه ګوډاګي باچا په جامه کې پټ دي، له خپلو کړو څخه پښېمان شول او خپل مال او ځان یې د شاه شجاع او انګرېزانو د ورکولو په لاره کې نذرانه کړ، د بېلګې په توګه همدغه روحاني حافظ جي او میر مسجد خان کوهستاني او نورو سلګونو تنو همدا کار وکړ.

په هر حال، په افغانستان کې دننه د انګرېزانو جاسوسي اداره هندي نامتو جاسوس، د برنس منشي موهن لال ته وسپارل شوه، چې د افغانستان په جنوبي محاذ کې په فعالیت بوخته وه. د افغانستان په ختیز کې دغه دنده کلاوید ته سپارل شوې وه، موهن مخکې له دې، چې انګرېزان کندهار ته ننوځي خپل یو عامل د محمد طاهر په نوم په کندهار کې ګومارلی و، چې د کندهار تر ټولو اغېزمن مامورین او د کندهار د حکومت قوي مامورین، ملا نصوح او کهندل خان د سردار په ضد او د شاه شجاع په پلویتوب رغځوي. همدې سړي وکولای شول، چې په خپله تېره ژبه کهندل خان بې زړه کړي او له دښمن سره له مقابلې پرته یې تېښتې ته اړ باسي. سردار کهندل خان، چې واورېدل، چې شاه شجاع او انګرېزان په کندهار را روان دي، نو د بلوچستان والي میر مهراب خان ته یې لیکونه واستول او په هغو کې یې له هغه څخه په کلکه وغوښتل، چې هلته دې د انګرېزانو د را تېرېدو مخه ونیسي او په بولان کې دې انګرېزان بند کړي او له دښمن سره دې په هېڅ تړون کې نه شریک کېږي. دغه لیک سردار یوه ډېر اعتباري کندهاري قزلباش ته ورکړ، چې له عبدالوهاب خان پوپلزایي سره یې په کلات کې مهراب خان ته ورسوي. د دغې دندې د ترسره کولو پر مهال عبدالوهاب خان پوپلزي له هغه انګرېز هیئت سره مخامخ شو، چې په کلات کې په خبرو-اترو بوخت و، هغوی سره یې په پټه خبره وکړه او بیا یې په لاره کې خپل قزلباش ملګري ونیو بندي یې کړ او له هغه څخه یې لیک او نور شیان واخیستل او انګرېزانو ته یې په لاس ورکړل، په دې پسې انګرېزانو هم مهراب خان او هم د بلوچستان حکومت راوپرځول. په غزني کې هم داسې یوه پېښه وشوه، د امیر دوست محمد خان زوی سردار غلام حیدر خان د دښمن د راتلو پر مهال ځان ایسار کړ، دا ځکه چې د دغه کلک ښار نیول آسانه نه و، خو د سردار خوریي سردار عبدالرشید خان او د عبدالامین خان زوی، چې په کابل کې یې د برنس د اوسېدلو پر مهال له موهن لال سره پېژندګلوي شوې وه، د انګرېز په لومه کې ښکېل او د هغوی مستخدمین شول. دا مهال په غزني کې وو او له موهن لال سره یې په پټه اړیکې درلودې. نوموړي د سردار ټول پلانونه او دفاعي جنګي طرح انګرېزانو ته ورکړه او خپله هم دښمن سره یو ځای شو او هغوی ته یې وښودله، چې د غزني کابلي

Scanned by CamScanner

دروازه په آسانه نړول او سوځول کېدای شي. حال دا چې نورې ټولې دروازې په پلنو دیوالونو سره پورې کلکې شوې دي، نو دښمن په آسانه سره همدغه دروازه والوځوله او غزني ښار یې ونیو. عبدالرشید ته ددغه چوپړ په بدل کې د میاشتې یواځې پنځه سوه روپۍ مستمرې (تنخا) مقرره شوه، خو هغه یې هم ډېر وخت ونشو خوړلای، دا ځکه چې ډېر ژر مړ شو.

په ختیز محاذ کې هم همداسې پېښه وشوه: هغه ظاهري ځلواك نمایش او ننداره. چې تیمور خلکو ته وښوده، یو شمېر قومي مشرانو او خلکو ته یې دوکه ورکړه. نو په دې سره یو شمېر نامتو مشران د شاه شجاع په نوم له شهزاده تیمور سره یو ځای شول لکه، د لالپوري صادق محمد خان او طره باز خان. غزن خان، د دیر فرید احمد خان، د سوات عنایت الله خان، د باجوړ میرعلم خان، د پنډیالي نواب خان، بدرالدین خان موسی زی، له تهکال څخه غلام خان، محمد امین خان، ګوجر خان او حمید خان. په تیرا کې سید احمد شاه خان، سرفراز خان او نجابت خان، په کونړ کې د نامتو سید بابا خان زوی، سید نظام الدین او همدا رنګه سید رضي، محمد رضي او حسن رضي او داسې نور.

انګلیسانو هڅه کوله، چې د خلکو مخور د شاه شجاع او تیمور په پلوۍ راټول کړي او د خپلو موخو لپاره یې وکاروي. که څوك به د دوی په موخه وپوهېدل او مخالفت به یې وکړ، هغه به یې په هره وسیله لکه زر، زور او تبلیغ یا له لارې ګرځاوه یا به یې هم وځاپه، ځکه چې دوی ورته خنډ بلل کېدل. د بېلګې په توګه د لالپوري سعادت خان، چې په دغو ظواهرو نه غولېده، په مقاومت یې پیل وکړ. خو انګرېزانو هغه په زور سره وځاپه او د هغه ځای یې د هغه سیال طره باز (توره باز) خان ته ورکړ. په همدغو توطئو او دسیسو سره انګرېزي لښکر د شهزاده تیمور تر نوم لاندې پرته له کوم مقاومت څخه له خیبر څخه راتیر او بیا له جلال آباد څخه تر کابل پورې ورسېد. همداسې هم په همدغه سیاسي چل سره له بولان څخه تر کندهاره پورې ورسېدل.

## په بلوچستان کې

مخکې تر دې، چې انګرېزان د بولان درې ته ننوځي، الکساندر برنس موهن لال له شکارپور څخه کلات ته واستاو، تر څو د شاه شجاع په نوم هغه ځای کې د بولان له خطر څخه ډکه دره د انګرېز د ډاډمن تېرېدو لپاره چمتو کړي. دا ځکه چې په دغه دره کې ډېر لږ کسانو کولای شول، چې د انګرېز ډېر لوی اردو له تباهۍ سره مخامخ کړي. له دې پرته انګرېزانو دا هم غوښتل، چې د بولان له درې څخه د تېرېدو لپاره د دوی لښکر ته آذوقه-خرخ او وابسه ټول د بلوچستان والي چمتو کړي. انګرېزانو ددغه ډول چوپړونو په بدل کې یواځې یو څه وعدې کولې. دوی دا ژمنه وکړه، چې که شاه شجاع پاچا شي نو مهراب خان به چې اوس د بلوچستان والي دی. هغه مهال به حاکم شي. حال دا، چې د انګرېزانو جاسوسانو لا پخوا په بلوچستان کې د نفاق تخم کرلی و او د مهراب خان په وړاندې یې ډېر ځواکمن سیالان لکه شهنواز خان او نور ورته پاڅولي وو، چې مهراب خان ایله له هغوی سره اخته وو. مهراب خان په اصل کې یو وطنپال او زړور سړی و او ځان یې د بلوچستان د پخوانیو والیانو ځای ناستی باله.

Scanned by CamScanner

دغو پخوانيو واليانو له دیارلسمې میلادي پېړۍ راهیسې د بلوچ د بروهي د قبیلې د میر قنبر د پښځم لمسي میر حسن د حکومت له دوران څخه تر دې مهال پورې د بلوچستان د حکومت چارې پر مخ بیولې. په اوولسمه پېړۍ کې میر احمد د همدې کورنۍ یو غړی و. چې د پخواني حکمران د کورنۍ ځای یې په یوه کوچنۍ کړۍ کې ونیو، چې مرکز یې په کلات کې و. میر احمد په ۱۷۱۲ کې ومړ او دده پر ځای یې زوی مهراب خان والي شو. میر مهراب خان. چې کله په یوه کورنۍ جګړه کې ووژل شو، نو پر ځای یې دده وراره میر سمندر خان حکمران شو. له سمندر څخه وروسته د مهراب زوی میر احمد د بلوچستان والي شو. په دې توګه د حاکمانو دغه لړۍ تر دې وخته را روانه وه، چې یو یې بیا میر نصیر خان و، چې د ابدالي احمدشاه په دوره کې یې د افغاني حکامو په لړ کې په اتلسمه پېړۍ کې دنده ترسره کړه.
په هر حال، کله چې انګرېزانو افغانستان ته خپل لومړني سوقیات پیل کړل، د بلوچستان حاکم لکه د پخوا په شان د افغانستان تابع و. دغه سړي د برنس هیئت ته د بلوچستان د همه کاره محمد نایب خان او ګنداوې د حاکم سید محمدشریف خان په لېږلو سره هر کلی ووایه او خبرې-اترې پیل شوې. برنس ورته د یوه تړون مسوده وړاندې کړه، چې د هغه له مخې به انګرېزان سمدستي دولس زره روپۍ او په راتلونکې کې د کال دوه سوه زره روپۍ ورکوي او مهراب به د بلوچستان یواځینی حاکم وي. خو ددې په وړاندې به مهراب خان بولان د شاه شجاع د لښکر تیرېدو ته ډاډمن او پرانیستی پرېږدي او هم به د انګرېز او پاچا لښکر ته آذوقه چمتو کوي. د مهراب خان لویو مامورینو نایب محمدحسن خان (چې یو تعلیم یافته او ادیب سړی و) او سید محمدشریف دغه وړاندیز ونه مانه او د برنس خبره یې رد کړه. د کلات ځواکمن مشر (داروغه ګل محمدخان) هم دغه تړون نه مانه. مهراب یواځې همدومره منله. چې باید انګرېزان د بلوچستان نورو براهوي مشرانو سره کومه معامله ونه کړي، نو افغانستان ته به د انګرېز د سوقیاتو په عملیاتو کې فقط ناپېیلتوب غوره کوي. خو ښکاره خبره وه، چې د مهراب خان بې طرفي له بولان څخه د انګرېزانو تېرېدل نشو بې خطره کولای او په کوژك کې یې په انګرېز باندې د اڅکزیو د برید مخه نشوه نیولای. نایب محمدحسن خان نور څه ونه ویل، خو یو څو تنو ته یې دنده سپارله، چې دغه تړون د لارې په ترڅ کې ترلاسه او د دښمن لاس تش کړي، له بلې خوا خلکو د برنس د اوسېدو پر ځای برید وکړ. دا مهال انګرېزانو د بلوچستان موضوع د کندهار تر فتح کولو پورې وځنډوله.
همدا، چې انګرېزان د کندهار په نیولو بریالي شول، نو یو لښکر یې بلوچستان ته واستاو. مهراب خان له یو ځواکمن دښمن سره په مقابله کې د غرض لرونکو فیوډالانو له خوا یواځې پرېښودل شو، خو بیا یې هم زړه نه بایلود، د خلکو په سر کې ودرېد او د هېواد د آزادۍ لپاره یې توري ته لاس کړ. له سهار څخه تر غرمې پورې جګړې د دوو نابرابرو ځواکونو تر منځ د توپ او ټوپکو په ډزو سره دوام وموند. په دې وخت کې د دښمن توپونو د مستونګ دروازه والوځوله او انګرېزي سرتېري کلا ته ننوتل. زړور مهراب له سرې توري سره د دښمن د لښکر په صفونو یرغل ور وړ او له خپلو زړورو ملګرو سره یې تر وروستۍ سلګۍ پورې توري ووهلې او همالته له شاغاسي (ایشك اقاسي) نور محمدخان، میرولي خان

مینګل، عبدالکریم خان رئیساني، داد کریم خان شواني، شهباز خان انچاري، فضل خان لهړي، بني بخش خان جتویي او یو شمېر نورو ننګیالیو سره ووژل شو.

انګرېزانو نایب محمد حسن خان او رحیم داد خان بندیان کړل او په دروغو سره یې دا خبره هم خوره کړه، چې ګوا کې محمد حسن خان په پټه له انګرېزانو سره ولاړ و. دوهم نصیرخان اړ شو، چې په هماغه ۱۸۳۹م. کال یو اته توکیز تړون له انګرېزانو سره لاسلیك کړي او د کلات د خان په توګه پاتې شي. دغه تړون تر ډېره بریده پورې د انګرېزانو په ګټه و، خو د بلوچستان په ګټه نه و، خو بیا یې هم د بلوچستان کورنۍ خپلواکي تر یو برید پورې ډاډمنه کړې وه. نصیرخان د کلات وزارت مخکې ذکر شوي رحیم داد خان ته ورکړ او وروسته بیا د خپل نماینده ملا احمد خان په واسطې سره، چې په جیکټ آباد کې له انګرېزانو سره و، خبر شو چې ګواکې نایب محمد حسن خان پټه انګرېزانو سره لاره درلوده او انګرېزانو څخه یې غوښتي دي، چې د کلات حکومت ده ته ورکړي او دا ژمنه یې هم کړې، چې د کلات اداره به د انګرېزانو له خوښې سره سمه پر مخ بیایي. نصیر خان د انګرېزانو په خبره او شرافت باندې باور وکړ او محمد حسن یې د هغه له ورور سره یو ځای بندیان کړل، تر څو چې نایب په ۱۸۵۴ کې وفات شو، خو ورور یې په ۱۸۵۲ کې د بلوڅانو په شفاعت د کلات د حاکم خداداد خان په لاس له بند څخه خوشې شو. انګرېزانو په ۱۸۵۴ کې په بلوچستان کې له ډېرو زیاتو خرابیو څخه وروسته د کلات له خان سره یو بل ۲۵ توکیز تړون لاسلیك او د بلوچستان لاس او پښې یې وتړل او په بشپړه توګه یې بې واکه کړ، خو د بلوچستان خلکو پاڅون وکړ او انګرېزان یې له کویټې او مستونګ څخه وشړل، تر څو چې د (سندیمن) ناولي طرح جوړه او نصیرخان، د انګرېزانو له ګورنر جنرال لتین سره کتنه وکړه او د ۱۸۷۲ د دسمبر د تړون په لاسلیك کولو سره د ۱۸۵۴ کال تړون له سره نوی شو. سره له دې، چې د دغه تړون له مخې بلوچستان لکه د بولان او کوژك په شان د انګرېزانو تر واك لاندې راغی، خو بیا یې هم لا خپل ځانګړې هویت وساته. البته انګرېزي سرتیري په کویټه کې او استازي یې په کلات کې مېشت شول، د انګلیس د تلګراف او د وسپنې د پټلۍ د غځېدو کار وشو، خو وروسته وروسته بیا په ۱۸۸۳م. کې بلوچستان د بریتانوي بلوچستان په نوم ونومول شو. کله چې د انګرېز پر ځای د پاکستان دولت جوړ شو په ۱۹۵۵م. کې د بلوچستان وروستنی حاکم میراحمد یارخان بندي کړل شو او دغه سیمه د پاکستان د غربي یونت د یوې برخې په توګه اعلان شوه.

## خو په کندهار کې

انګرېزي پوځ د ۱۸۹۳ کال په مارچ کې له شاه شجاع سره یو ځای له شکارپور څخه د بولان په لاره مخ په کندهار روان شول، البته مهراب خان د شاه شجاع په اړه ځان په رسمي توګه ناپېیلی وساته، خو آذوقه او واښه مانښه یې ور ونه لېږل. د دښمن پوځ په ډېر کړاو او د بلوڅانو د خرپ او ترپ تر بریدونو لاندې ډله ډله د بولان له لارې کندهار ته راغلل، حال دا چې د انګرېزي ځواکونو دوهم ستون او شهزاده تیمور، چې د مارچ په ۲۳مه ښکارپور ته رارسېدلي وو، لا دا مهال هم په ښکارپور کې وو، نو ډلته دوی په

کندهار کې د دندې کوښې په سیمه کې د کهندل خان له یوه پېنځه زرېز پوځ سره مخامخ شول. امیر دوست محمد خان د کابل په ارغنده کې له خپل سپاره، پلي او توپچي پوځ سره د دفاع په خاطر چمتو کېده، په غزني کې غلام حیدر خان له خپلو ۳۰۰۰ سرتېرو سره دفاع ته ولاړ و. په ختیز محاذ کې سردار محمد اکبر خان له سعادت خان لالپوري سره او د خیبر په غاښي کې محمد علم خان ورکزي او د تهکال یو شمېر مشران، چې یو ټولی سپور پوځ هم ورسره و، ولاړ وو او د دفاعي چارو څارنه یې کوله. د خیبر درې دننه لس زره افغاني سرتېرو له ۱۴ توپونو او ۲۵ زنبورك سره د نواز خان، عزیز خان غلجي او محمد شاه هندي توپچي تر مشرتوب لاندې او د علي مسجد په نظامي کلا کې د محمد ظریف خان او محمد شاه خان غلجائی تر قوماندې لاندې له یو ټولي ټوپك لرونکو پلیو سرتېرو سره د دښمن د راتګ لاره څارله. علي مسجد په حقیقت کې د خیبر د درې کونجي او له نظامي پلوه تر ټولو مهمه ستراتیژیك سیمه وه، البته چې د هغې لوړې مورچې باید لا مخکې ښې پوره کلکې وای.

د ۱۸۳۹م. کال په اپریل کې د لومړي ځل لپاره په کندهار کې د افغان او انګلیس پوځونه سره مخامخ شول. د اپریل په شلمه حاجي خان کاکړی (لوی خان) خپلو اړوند نظامي ټولګیو سره یو ځای د شپې د سردار کهندل خان له اردو څخه جلا او د شاه شجاع له اردو سره یو ځای شو. وروسته بیا یو شمېر نور اغېزمن کسان لکه عبدالمجید خان د لاش حاکم، غلام اخندزاده، حبیب الله خان سرکانلی، فیض طلب خان نورزاده رمضان خان غلجایی، اختر خان علیزایي او حاجي دوست محمد خان اسحق زی یو په بل پسې له شاه شجاع (د دوی په فکر چې همدا د افغانستان د رښتینی پاچاهی ور و) سره یو ځای شول. کهندل خان او د کندهار محمدزایي ورونو (سردار رحمدل خان او سردار مهردل خان) ښار پرېښود او وتښتېدل، دوی پسې د شاه شجاع سرتیري (جنرال سیل) و، دوی په ګرشك او نادعلي کې هم تم نه شول، کوم چې هلته د دوی د پلار ځمکې وې، بلکې مخامخ ایران ته واوښتل، چې پخوا یې ورسره تړون درلود. په دې توګه کندهار په پرانیستي غېږ شاه شجاع ته هر کلی ووایه او د دښمن پوځ د اپریل په ۲۵مه کندهار ته ننوت، خو د اپریل میاشت کې وید او شهزاده تیمور په ختیز محاذ کې په سعادت خان لالپوري بری ومومند. د می د میاشتې پر اتمه نېټه په کندهار کې د شاه شجاع د تاج پوشی ورځ وه، خو خلکو چې پردي پوځونه ولیدل، نو دغو (پرتمینو) مراسمو ته یې په کرکه وکتل. په کندهار کې انګرېزانو دې خبرې ته ډېر اهمیت ورکړ، نو ځکه یې د جون د میاشتې تر پای پورې د قومونو مشرانو ته د جایګیرونو د ورکولو ژمنې وکړې او په خلکو کې یې ښې شمېره اعلانونه خپاره کړل او له مخورو سره یې د پوهاوي هڅې وکړې. له دې لامله، چې مخکې په هرات کې د انګرېز پخواني استازي کلنل ستدرات له شهزاده کامران او د وزیر یار محمد خان سره ولسلي له سیستم سره سم د یوه تړون په لاسلیك کولو کې ناکام شوی و، نو د هغه پر ځای یې میجر تارد هلته استولی و، چې دا کار وکړي، خو هغه هم ناکام شو، له بلې خوا انګرېزان چې تر کندهار پورې پرته له کوم خنډ څخه رسېدلي وو او دغه ولایت یې په آسانه نیولی و، نو په ټول افغانستان د خپل واکمن کېدو په اړه ډاډمن ښکاره کېدل. دوی هغه د دوستی غړوندی، چې د شاه شجاع غاړه کې وراچولی و، هغه یې نور هم یو څه ورباندې تنګ کړ، چې

Scanned by CamScanner

غږ یې ونه وځي. په دې توګه یې په خپل دغه درانه بندي باندې د ۱۸۳۹م. کال د می د اوومې نېټې اووه توکیزه (دوستانه) تړون ومانه. د دغه تړون له مخې به افغانستان له هر اروپایي جنس سره ارتباط پرې کوي او د انګلیسي افسرانو او پوځ دایمي مېشت کېدل په افغانستان کې او د افغانستان په لګښت واجب وګرځول شول او سوداګریز مسایل هم د انګلیسیه دولت مدار د سرکار د ایلچي په خوښې پورې وتړل شول.

## په غزني کې

انګرېزانو له شاه شجاع سره په کندهار کې دوه میاشتې (می او جون) پاتې شول، وید او تیمور هم دغه دوه میاشتې په پېښور کې تم پاتې شوي وو. د جون په پای کې، چې شاه شجاع او انګرېزانو د کندهار ملکي او نظامي چارې د انګلیسي عسکرو افسر او سیاسي استازي مسترلیچ[1] ته وسپارلې او په کندهار کې شهزاده فتح جنګ هسې په نامه والي پاتې شو او په خپله دوی له ۲۸ زرو عسکرو او کندهاري لویو خانانو سره مخ په غزني روان شول تر څو کابل ته هم ورشي، دلارې په اوږدو کې د کلات په سیمو کې غلجیو، چې لارې پرېښې وې، د خرپ او ترپ په بریدونو سره یې انګرېزي لښکر یرغل لاندې راوستی و او غنیمتونه یې ورڅخه وړل. انګرېزانو هڅه وکړه، چې د هغوی مشرانو سره خبرې وکړي او هغوی سره یو څه ژمنې وکړي او د پیسو او رتبې په منلو سره یو توافق ته ورسره ورسېږي. خو هېڅ لاره یې ونه موندله. د انګرېزانو اردو د جولایي په څلورمه د غزني د کلات سیمې ته ننوت، خو دلته خلکو اورېدلي وو، چې له شاه شجاع سره انګرېزي لښکر مل دی، نو ځکه یې د هغه هر کلی ونه کړ، لارې یې پرېښودې او له خپلو مشرانو ګل محمد خان، عبدالرحمن خان او سلطان محمد خان سره یو ځای یې ځانونه یوې خوا ته کړل.

شاه شجاع. چې دا حال ولید خپل یو پلوي یې، چې میر علم خان توخي نومید د کلات د غلجیو د مشر په توګه مقرر کړ او له دې سیمې څخه تېر شو. همدې پېښې سره برابر د جولایي په اوومه نېټه وید او تیمور د علي مسجد کلا ونیوله او هغه یې د یو کلک سنګر په توګه جوړه او یو کنډک سرتېري یې پکې واچول او دې پسې مخ په ډکه راغلل دا، ځکه چې امیر دوست محمد خان د دغه محاذ مدافع سردار محمد اکبر خان په اضطراري توګه کابل ته راغوښتي وو، کله چې د دغه سردار د سنګر کلک ملګري سعادت خان لالپوري دا حال ولید، نو هغه هم لالپوري ته ستون شو، په دې توګه د وید او تیمور لښکر زړور شو ډکې ته را ورسېدل او لالپوره یې هم په همدې جولایي کې ونیوله.

شاه شجاع، جنرال کین او مکناټن له کلات څخه مخ په غزني را روان وو، او د جولایي په یوویشتمه د غزني د کلا مخامخ تم شول، د غزني مدافع سردار غلام حیدرخان ښار په درې زره سرتېرو سره کلک کړی

[1] - میجر لیچ (د کلات تاریخ، تر نامه لاندې یو کتاب لیکلی. له ده څخه وروسته هانري راولنسن په کندهار کې د سیاسي استازي په توګه وټاکل شول.

او د غزني دروازې يې په پلنو ديوالونو سره بندې کړې وې، يواځې کابلي دروازه د وتلو لپاره په حال پاتې وه او د امير دوست محمد خان بل زوی سردار افضل خان هم له خپلو درې زره سرتېرو عادي سره له کابل څخه غزني ته را ورسېد او له ښار څخه لرې لوړو باندې يې سنګر ونيو. دوی پوهېدلي وو، چې دښمن خپل درانه توپونه د لارې د خرابوالي له لامله په کندهار کې پرېښي دي او په عادي توپونو کولای، چې د ښار ديوالونه ونړوي. نو غزني به ډېره موده دفاع وکولای شي او دښمن به ستومانه شي او مخ په کابل به ورشي او دا مهال به امير دوست محمد خان په خپله له ارغندي څخه او د غزني خواکونه به له دې لوري ورباندې ورشي او د شاه له لوري به دښمن له منځه يوسي. په تېره بيا دوی دا هم اورېدلي وو، چې غلجيانو هم د دښمن د تباه کولو لپاره ملا تړلې وه. دوی ډېر ژر دغه ورېدلي خبرې په رښتيا هم د سر په سترګو وليدلې او لومړې ځل لپاره يو شمېر زړورو غلجيو د مهتر موسی خان زرمتي په مشرۍ څان غزني ته راورساوه او د ښار ختيزو او شمالي لوړو کې ځان پر ځای شول. خو شا شجاع يو شمېر سرتيري په ډېره بيړه د کپتان نکلسن تر قوماندې لاندې په هغوی باندې د بريد لپاره واستول. دا مهال لا غلجيو سنګرونه ټينګ کول، چې يو ناڅاپي تر کلک بريد لاندې راغلل او وروسته تر يوې خونړۍ جګړې شا تګ ته اړ شول. انګرېزانو د هغوی پل پسې واخيست او د انګرېزانو په څانګړې طريقه د هغوی د يو سر لپاره زر اشرفۍ سره زر جايزه وټاکل شوه. ډېر ژر د يو شمېر وژل شويو غلجيو سرونه او اتيا تنه بنديان انګرېزانو ته راوړل شول او امر وشو، چې ټول بنديان دې د انګرېزانو د کمپ (پنډغالي) مخامخ حلال کړل شي، دا ځکه چې انګرېزان لا دا مهال د افغانستان د خلکو په روحياتو خبر نه وو، غوښتل يې په همدې لومړي پړاو کې د افغانستان په خلکو ويره تېره کړي. په دې حال کې د امير دوست محمدخان خوريي سردار عبدالرشيد د موهن لال په واسطه د ليک په لېږلو سره له انګرېزانو سره اړيکې پيدا کړې او په پای کې د دښمن اردو سره يو ځای شو او د افغانانو ټوله جنګيي نقشه او دفاعي وضعيت يې انګرېزانو ته بيان کړل. جنرال کين امر وکړ، چې د جولايي په ۲۳مه شپه دې مستر تامسن د غزني کابلي دروازه د تيلو او باروتو په وسيله وچوي. د همدغې شپې په درې بجو د دښمن سرتېري ښار ته ننوتل. سردار غلام حيدرخان د غزني بالاحصار کې ځان کلابند کړ.

خلك د چاودنې د غږ په اورېدو پاڅېدل او هر ډول وسله، چې لاس ته ورغله را وايې خيسته، کوڅه په کوڅه کور په کور او ګام په ګام لاس او ګريوان جګړه ونښته، د غزني خلکو او د غزني پوځ دومره سپېڅلې جګړه وکړه، چې د انګرېز سترګه يې وسوځوله. د جګړې په پای کې د غزني له ساتونکو څخه ۱۲۰۰ تنه ووژل شول او ۳۰۰ تنه يې ټپيان شول او د دښمن ۱۷ افسران د جنرال سيل په ګډون ۲۰۰ تنه ټپيان شول، خو انګرېزانو د خپلو مړو شمېر هېڅکله هم څرګند نه کړ. انګرېزان په بالاحصار کې د غلام حيدرخان حرمسرای ته ننوتل د هغه ۳۰ تنه عيان او د حرم غړي يې ور ووژل او په خپله سردار يې د غزني په يوه کور کې بندي کړ او جنګي اسيران، چې زياتره يې بې وسلې وو، د توپ خولې ته وتړل شول او يو شمېر يې لکه د پسونو په شان حلال کړل شول. سردار عبدالرشيد خان، چې په خپله د شاهي کورنۍ يو غړی و، او کلونه کلونه يې د افغانستان د خلکو له زيار څخه خوراك او تفريح کړې وه، د خپلو

هېوادوالو حالت ته بې توپیره کتل او د دوی ننداري ته ولاړ و. کله یې چې پنځوس تنه د غزني بندیان د شاه شجاع حضور ته راوستل، یوه تن چیغه کړه او پاچا ته یې د "پرنګي نوکره" نوم ورکړ، نو د هغوی ټولو سرونه یې ور پرې کړل. کله چې سردار محمدافضل خان د غزني له حال څخه خبر شو له خپلو درېو زره سرتېرو سره یو ځای د پلار خوا ته ور وتښتید. امیر دوست محمد خان خپل وررور نواب عبدالجبار خان، چې له انګلیسانو سره یې د پېژندګلویي سابقه درلوده او تېر کال په کابل کې د الکساندر برنس کوربه و او د هغه زوی سردار عبدالغفارخان ځوکاله په لودیانه کې د انګلیسي ژبې په زده کړه بوخت و، دواړه یې غزني ته د روغې-جوړې لپاره ور واستول او په خپله د دغو خبرو-اترو پایلو ته په تمه کښېناست. نواب عبدالجبار خان په غزني کې له مکناټن سره خبرې وکړې او د امیر دوست محمد خان له خوا یې ورته وویل: امیر دوست محمد خان د شاه شجاع پاچاهي مني په دې شرط، چې د شاه شجاع وزارت ده ته ورکړل شي. مکناټن چې کتل، چې دښمن ډېر ضعیف دی، نو په ډېر کبر سره یې ځواب ورکړ: انګلستان غواړي، چې امیر دوست محمد خان په تحت الحفظ بڼه هندوستان ته واستوي. نواب، چې دا ځواب واورېد نو خپله دوهمه غوښتنه یې وړاندې کړه او وي ویل، چې سردار غلام حیدرخان او د هغه عیال دې پرېښودل شي. مکناټن نه غوښتل، چې دا ډول مهم برمته دومره په اسانه له لاسه ورکړي، نو دا وړاندیز یې هم رد کړ. نواب یو ځل بیا غوښتنه وکړه، چې کم له کمه د سردار میرمن خو باید له بند څخه راخلاصه کړي، خو دغه بې لحاظه انګرېز دا هم ونه منله، خو یواځې له سردار غلام حیدرخان سره د لیدلو-کتلو اجازه یې ورکړه. نواب عبدالجبار، چې کتل چې په هېڅ بڼه له انګرېزانو سره کومې پایلې ته نه رسېږي د جولایي په ۲۹مه بېرته راستون شو. مکناټن په پای کې د امیر دوست محمد خان او نواب تر منځ د نفاق د پیدا کولو په خاطر وویل: د شاه شجاع وزارت به په خپله نواب ته وسپارل شي، خو نواب ونه منله او د امیر دوست محمد خان اردو ته یې ځان را ورساوه.

## د امیر دوست محمدخان تېښته (۱۸۳۹)

همدا چې نواب عبدالجبار راستون شو او د انګلیس له وضعیت څخه یې امیر ته خبر ورکړ، امیر دوست محمد خان پرته له ځنډ څخه د ارغنده لښکر کوټ له خپلې ټولې اردو سره په ځای پرېښودل او په بیړه د اونۍ په غاښې مخ په بامیان او له هغه ځایه خلم ته وتښتید، ځکه پخوا ورته دا تبلیغ شوی و، چې د انګرېزانو ځواکونه له غزني او خیبر څخه راغلي دي او هغه کلابند کوي او د کوهستان خانان د ختې له لوري وربانديې برید کوي او له بلې خوا د هغه د توپچي افسر نوی مسلمان شوی کمپبل (شیرمحمد) هم له شاه شجاع سره له جګړې کولو مخ واړاوه. امیر دوست محمد خان په لویو کارونو باندې د اقدام کولو قوي اراده نه درلوده په تېره بیا له پردیو سره د جګړې عزم او توان پکې نه و، نو ځکه یې په دغو شیبو کې کوم د اتلولۍ ګام نشو پورته کولای. ده پخوا هم دا زړورتوب نه و کړی، د بېلګې په توګه د پنجاب د سکهـ په وړاندې، د ګجرات په جګړه کې او د هند د ملي انقلاب پر مهال هم ده د انګرېزانو په وړاندې یو د نه منلو ضعف له ځان څخه ښکاره کړی و، آن دا چې هغه مهال چې

سکهانو پښور او اټك ده ته ورپرېښي وو، هم وروسته تر نیولو یې انګرېزانو ته پرېښودل. نو په اوسني حالت کې یې هم خپل تاریخي مسئولیت نشو ادا کولای. د اګست په دریمه جنرال کین او مکناټن خبر شول، چې امیر دوست محمد خان له ارغندي څخه د بامیان په لاره تښتیدلی دی. نو ځکه یې د کلنل اترم او لارنس په مشرۍ اته سوه سپاره د حاجي خان کاکړي په لارښوونه د امیر د نیولو په موخه پسې ولېږل، خو حاجي خان کاکړ، چې د شاه شجاع د راتګ په شروع کې دوکه شوی و او کندهار نه یې د هغه راتګ د حقیقي پاچا په توګه منلی و او اوس یې په هېواد باندې د پردیو واك د سترګو باندې لید، لکه د کندهار د نورو مشرانو په شان له خپلو کړو څخه پښېمانه شوی و. نو هغه انګرېزي سرتیري په داسي لارو بوتلل، چې امیر د تېښتې فرصت وموند. انګرېزان تر بامیان پورې ورسېدل، خو د امیر درك ورته ونه لګیده، نو بېرته راستانه شول، خو د حاجي خان په اصلي نیت او ضمیر باندې وپوهېدل، نو ځکه یې هغه چې په کندهار کې په ناصرالدوله لقب سره یاد شوی و، بندي کړ او هندوستان ته یې تبعید کړ.

په هر حال، کله، چې امیر له ارغندي څخه د ۱۸۳۹ کال د اګست په لومړۍ نېټه وتښتید، نو نواب عبدالجبار خان او د امیر کورنۍ هم له کابل څخه ورپسې ورغلل. امیر ته په صیغان کې د هغه ځای د سیمه ییز حاکم محمدعلي بیګ له خوا ښه راغلاست وویل شو. خو ډېر ژر له هغه ځایه تېر شو او خلم پورې تر رسېدو پورې سیممه ییزو امیرانو لکه صوفي بیګ، قلیچ بیګ او میربابا بیګ له ازبکي سپرو سره هغه بدرګه کړ. په خلم کې میرولي بیګ ده ته کور او لګښتونه چمتو کړل تر څو د امیر کورنۍ راورسېدله. دلته خلکو هیله وکړه، چې امیر دې همدلته پاتې شي او دښمن سره د مبارزې په خاطر دې عسکر راټول شي، خو امیر ونه منله او د میرزا عبدالسمیع په واسطه یې د بخارا له امیر نصرالله خان څخه بخارا ته د ورتګ اجازه وغوښته. امیر نصرالله خان ومنله او امیر دوست محمدخان له خپلو یو شمېر زامنو او وریرونو او سپرو او پلیو ساتونکو سره بخارا ته ورغی او خپله پاتې کورنۍ یې په خلم کې له نواب عبدالجبار سره پرېښوده. امیر نصرالله، چې کتل چې د امیر خپلوان ډېر دي او مفته لګښتونه یې زیاتېږي، نو امر یې وکړ، چې امیر دوست محمدخان دې له خپلو زامنو سره په بخارا کې پاتې شي. نور ورسره کسان دې، نورو ولایتونو ته خواره شي او هلته دې ژوند کوي. امیر دوست محمدخان دغه خبره ونه منله، نو ځکه یې خپل یو شمېر کوچني زامن له خپلو مشرانو زامنو سردار محمدخان او سردار شیرعلي خان سره یو ځای بېرته خلم ته ولېږل او نواب عبدالجبارخان ته یې خبر ورکړ، چې د امیر له ټولې کورنۍ سره دې کابل ته لاړ شي او انګلیس ته دې تسلیم شي. نواب همداسې وکړل، خو د امیر زوی سردار محمدافضل خان او د امیر وراره سردار محمدعمرخان ونه منله او په تاشقرغان کې پاتې شول. کله چې د امیر کورنۍ کابل ته ورسېده، انګرېزانو په ډېره خوشحالۍ دا قیمتي برمته ومنله او په غزني کې یې د سردار غلام حیدرخان له کورنۍ سره یو ځای بندیان او تر څارنې لاندې ونیول. په همدې وخت کې د امیر څو زامن او وریرونه او په دوی کې یو نامتو محمداکبرخان د هغه زوی او بل سردار سلطان احمدخان د هغه وراره افغانستان ته د بېرته راتګ په

Scanned by CamScanner

خاطر له بخارا څخه راووتل، خو د بخارا د امیر لښکر هغوی ونیول او په بخارا کې یې بندیان کړل. همدغه اخ و ډب په ترځ کې د سردارانو دوه تنه زړور ملګري سمندرخان او جهان ګل خان ووژل شول د امیر دوست محمد خان لګښت هم موقوف شو او امیر دوست محمد خان په ډېره بېوزلۍ سره د ۱۸۴۰ تر پسرلي پورې په بخارا کې پاتې شو.

## کابـل

وروسته تر هغه. چې شاه شجاع او انګرېزانو غزني ونيو، د کابل په لوري را روان شول او د وردګ په شیخ آباد کې د امیر دوست محمد خان د اردو ټول افسران او مامورين ورته هر کلي ته ولاړ وو. شاه شجاع او انګرېزان د ۱۸۳۹ د اګست په اوومه د کابل ښار ته ننوتل په داسې حال کې. چې د کابل د ښار او شا و خوا سیمو څخه په زرګونو تنه د حقیقي پاچا دلیدو لپاره راټول شوي وو، په لارو او دیوالونو په سرونو په تمه ناست وو، همدا چې پاچا راڅرګند شو او څنګ ته یې جنرال کین او مکناټن او شاته یې انګرېزي لښکر تر سترګو شو. نو د خلکو په تودو احساساتو سړې اوبه توی شوې. هیچا کوم غږ زوږ او سلام او کوم ښه راغلاست ورته ونه وایه او پاچا په خواشینۍ بالاحصار ته ننوت او کله یې چې وروسته تر ۳۰ کلونو سلطنتي ودانۍ په بده ورځ او دربدره ښه ولیده ویې ژړل دا، ځکه چې دی په یوه ډېره دردوونکي دریځ کې و هغه په کندهار کې له تاج پوشي څخه وروسته ولیدل. چې انګرېزانو هغه غولولي دي او د یوه پردي دښمن په لاس کې د نانځکې په شان دي.

## په افغانستان کې د انګرېزانو ځای پر ځای کېدل(۱۸۳۹)

د انګرېزانو لښکر د ۱۸۳۹ کال د اګست په اوومه د کندهار له جبهې څخه کابل ته راغی او د انګرېز بل دوهم لښکر د اګست په ۱۷مه جلال آباد ته او د سپتمبر په دریمه کابل ته راغی ، چې د تیمورشاه توغ یې په مخه کې رپېده. په دې توګه دواړه د انګرېزانو دواړه پوځونه د شاه شجاع تر نامه لاندې د شپږو میاشتو په ترځ کې (له مارچ څخه تر اګست پورې) د افغانستان پلازمېنې ته را ورسېدل او دلته ځای پر ځای شول د دښمن ځواکونو په ډېره چټکۍ سره د هېواد په هغو مهمو سیمو کې موضع ونیوله، چې د شاه شجاع په لاس کې وې: د کندهار په ښار کې د انګلیسي لښکر د جنرال نات(۱) تر مشرۍ لاندې پاتې شو. وروسته بیا یې د کندهار او غزني تر منځ د اولنګ د پړاو په سیمه کې یوه جنګي کلا جوړه او د کلنل ویمر(۲) تر لارښوونې لاندې هلته ځای پر ځای شول. د غزني په ښار کې یې یوه قطعه د میجر مکلارن تر قومندې لاندې ځای پر ځای شوه. همدا رنګه په چاریکار، بامیان، جلال آباد او علي مسجد او کویټه کې انګلیسي نظامي قطعات پرېوتل، خو د اردو ډېره برخه یې په کابل کې وه. له دې لامله چې

---

۱- William Nott.

۲- Wymer.

Scanned by CamScanner

کابل د هېواد پلازمېنه وه او باید له همدې ځایه د ټول هېواد څارنه کېدای، نو دلته انګرېزانو ډېر پیاوړي نظامي ترتیبات ونیول

د کابل ښار او د ښار اوسېدونکي د کابل د سیند په دوو غاړو کې آباد وو. د سیند جنوبي غاړې ته د بالاحصار ښار د یوې هسکې غونډۍ په اړخ کې و. چې په لویدیځه څنډه کې د خواجه صفا د غره له تاریخي دېوال سره نښتی و. چې د کابل ټوله ختیځه شمالي او جنوبي سیمه یې د اور تر اغېز لاندې وه. پرته له بالاحصار ښار څخه بهر د کابل د سیند دوو غاړو ته پخوانۍ کلکې کلاوې. چې لوړ برجونه، پلن دېوالونه او تېر کشونه یې لرل آبادې وې. چې دا کلاوې هم هر یوه یې یوه مورچه وه لکه وزیر کلا، نشان خان کلا او د کابل د سیند ښۍ غاړې ته د چنداولو کلکه سیمه. د محمود خان کلا. د باغشاه کلا، د جعفرخان کلا. ریکاو کلا. شریف خان کلا او د شېرپور په سمه کې د کابل د سیند کیڼ اړخ ته د بي بي مهرو تر سیمې پورې پروت کلی. انګرېزانو په بالاحصار ښار کې پېنځه زره سرتېري او په نورو کلاوو کې یې کوچنۍ عسکري قطعات ځای پر ځای کړل او د بي بي مهرو د غونډۍ په اړخ کې یې د احتیاطي ورځې لپاره یوه لویه نظامي کلا او لښکر کوټ، چې یو پوړیزه ودانۍ او د آس ځغلولو ډګر، د ساز او آواز او ګډا مرکز او د تفریح ځایونه یې لرل جوړ کړل. همدا رنګه یې په شېرپور او سیاه سنګ کې چونۍ جوړې کړې. دا ځکه چې دوی فکر کاوه، چې دلته به د تل لپاره پراته وي او په تېره بیا اوس، چې د هندوکش تر جنوبي لمنو رارسېدلي وو، نو غوښتل یې چې پاخه واړوي. په دغو ټولو سیمو کې شاه شجاع او د هغه عمال د انګرېز تالي څټي او د انګلیس د سیاسي منصبدارانو استازي ښېرل کېدل. وروسته تر دې جنرال کین له خپل یوه کوچنۍ عسکري کنډک سره د جلال آباد او خیبر له لارې د اکتوبر په میاشت کې، هندوستان ته ستون شو او په کابل کې اعلان وشو، چې پرته د بنګال له سرتېرو او پرته د جنرال کاټن له کنډک څخه به نور انګرېزي ځواکونه ټول له افغانستان څخه ووځي. دوه میاشتې وروسته (د ۱۸۳۹ د دسمبر په ۱۸مه) د بمبئ د ځواکونو یوه کوچنۍ برخه هم له کندهار څخه د کوژک او بولان په لاره هندوستان ته ستنه شوه. د انګلستان دولت هم له داسې یوې نه اټکل کېدونکې سربې څخه ډېر خوښ و. انګلیس باچا حریص اکلنډ، سرجان کین او مکناټن ته د (ارل، بارون او سر) لقبونه ور وبخښل. سره له دې، چې کنډک مشر کین له جلال آباد څخه د خیبر په لاره د وتلو پر مهال د افغاني مبارزینو تر ګوزارونو لاندې راغی، په دې توګه د لسو میاشتو فعالیتونو په لړ کې د دوی مهمې چارې د ۱۸۲۹ کال له مارچ څخه تر دسمبر پورې پای ته ورسېدې.

د کابل انګرېزانو لکه مکناټن، الفنسټن او بریګېډیر شلټن په شوق سره په کابل کې د کرکټ او آس ځغلولو لوبې کولې، خو په ښار کې یې د کابل د حماسي کیسوویل او د قصه خوانۍ بازار بند او کسبي قصه ویوونکي یې موقوف کړل. حال دا، چې له پېړیو پېړیو راهیسې به په کابل کې حماسي داستان ویونکو په جنګي جامو زغرو، توري او ډال سره هره ورځ په عامه ډګرونو کې او د بازارونو چوک ته راوتل منظوم او منثور داستانونه، شهنامې او د رستم ابومسلم او امیرحمزه په شان پهلوانان او اتلانو نکلونه به یې اورول او حماسي داستانونه به یې په اوچت او موزون غږ د وسلې په خوځولو تمثیل کول.

Scanned by CamScanner

یوه ورځ چې مکناټن د بالاحصار د تخته پل له دروازې څخه په آس باندې سپور راووت او مخ په لویدیځ ښکته د ښار خوا ته را روان وو، نو د تخته پل په ډګر کې يې دا ډول منظره او د خلکو ګڼه ګونه ولیده، پوښتنه يې وکړه او، چې پوه شو نور يې دا ډول داستان ویل منع کړل. دا ځکه چې هغه د افغانستان د خلکو له مقاومت څخه ډکې روحیې او سلحشوري څخه په ویره کې شو.

## په افغانستان کې د انګریزانو چلند(۱۸۳۹)

وروسته تر هغه، چې انګریزي ځواکونو د کندهار، غزني، کابل، جلال آباد، بامیان او نورو سیمو په سوق الجیشي سیمو کې په توپچي، پلي او سپور پوځ سره کلکې مورچلې جوړې کړې، نو د انګریزانو چلند هم بدل شو. نور نو انګریز دوست نه، بلکې د افغانستان نظامي حاکم او اصلي واکمن شو. له دې وروسته مکناټن د انګریز سیاسي استازي او سفیر د یوه نایب السلطنت او صدراعظم بڼه غوره کړه. د دولت ټولې چارې د مامورینو ګومارل او لرې کول، د وزیرانو ټاکل، د افغاني افسرانو منل، بودیجه، مالیات، مجازات او مکافات او نور ټول د همده په واک کې شول. شاه شجاع چې په پیل کې له افغاني دود-دستور سره سم یو عام دربار جوړ او د خلکو عرایض به يې اورېدل او د مامورینو وړاندیزونه به يې کتل او امر و نهی به يې صادرول، ورو ورو داسې یو حالت ته راورسېد، چې له خپلې کوټې څخه نشو وتلای او که هسې د سیاست له مخې به يې کوم دربار ورته جوړ کړ او خلکو او مامورینو به کوم وړاندیز اوعریضه ورکړه، پاچا به فقط همدومره ویل: "امر میشود" د پاچا ودانۍ او د هغه د دربار خونه د انګریز افسر او عسکر له خوا ساتل کېدل. پرته د انګریزي صاحب منصب له اجازې هېڅ افغان نشو کولای، چې پاچا سره وګوري. د پاچا او انګلیس تر منځ د سوال او ځواب لپاره یو تن د میرزا حیدر علي لشکر نویس په نوم ټاکل شوی و. پاچا له خپلو ۸۵۰ تنو ښځو، ماشومانو او د کورنۍ غړو سره یو ځای د بالاحصار په ارګ کې د پېنځه زره انګریزي پوځ په واسطه ساتل کېده. د هغه خپل شاهي ګارد هسې په نوم یوه نهه سوه کسیزه قطعه وه، چې هندیان پکې ګومارل شوي وو، چې هېڅ ډول وسله ورسره نه وه، خو اوږده څوکه لرونکي لرګي به ورسره وو. په بالاحصار کې کلنل ډیني(۱) د پاچا افسر و، هغه دومره بې باکه انګریز و، چې آن د پاچا مجلس ته بې اجازې ورننوت. کله چې پاچا دده دغه بې ادبه حرکت په هکله ده ته اخطار ورکړ، نو په ځواب کې يې ورته وویل: زه یواځې د هند د ګورنر جنرال د امر منونکی یم او بس.

یوه ورځ پاچا شاه شجاع مکناټن ته وویل: افغانستان په امن کې دی او زه يې پاچا یم، نو د انګریزانو شتون ته اړتیا نشته. مکناټن ځواب ورکړ:

تر څو چې د امیر دوست محمد خان خطر موجود وي، په افغانستان کې د انګریزي لښکر شتون حتمي

۱- Dennie ډیني یو مهال د انګلستان د پاچا د یاور په توګه هم وګومارل شو، چې دا یوه لوړه درجه وه؟؟؟يې په سند، بلوچستان او افغانستان باندې یرغل، په نوم هم لیکلي. خو هغه په افغانستان کې تپي شو.

دی، انګریزانو نه یوائې دا چې په زور سره پاچا په خپل واک کې ساتلی و، بلکې د سیاست په وسیلې سره یې هم هغه ځانته اړ کړی و او په عین وخت کې یې هغه تر ګواښ لاندې هم نیولی و، دا څکه هغه تبول اوامر به، چې د هېواد او خلکو د ګټو پر ضد صادرېدل هر یو یې د پاچا په نوم وو، نو خلک او مخور د هغه په ضد شول. له بلې خوا انګریزانو د پاچا سیالان هم په قوت کې ساتلي وو، نو څکه ورو ورو بېلګې په توګه د امیر دوست محمد خان وریرونه نواب محمدزمان خان او سردار محمدعثمان خان لا ژوندي و او انګریزانو سردار محمدزمان خان ته (یو ښه نواب) نوم ورکړی و. نواب او سردار د افغانستان د عمومي انقلاب په ورځو کې سره له دې، چې په خپله هم له انقلابیونو سره وو، خو بیا یې هم موهن لال او یو شمېر انګریزان له خطر څخه ژغورلي وو. شاه شجاع په دغه ډول سیاسي او نظامي حال کې فقط د انګرېز په لاس کې یوه نانځکه وه، هغه چې په دې ټولو حالاتو پوهېده، نو ډېر ځورېده او کړېده. د شاه شجاع د مهال یو لیکوال، چې عمر یې په افغانستان کې او له افغاني لویو ماموړینو سره بو ځای تېر شوی و او په خپله یې ګڼ شمېر دغه پېښې لیدلي په خپل هغه کتاب کې، چې د افغان-انګلیس له لومړۍ جګړې څخه دولس کاله وروسته یې لیکلي، د شاه شجاع په هکله وايي:

وروسته تر هغه، چې مکناټن د خپل دولت له خوا د هند په حکومت (موخه یې بمبئ ده) مقرر شو، شاه شجاع ته اندېښنه ور پیدا شوه. مکناټن د برنس په واسطه شاه شجاع ته خبر ورکړ، چې له ګډوډۍ څخه د سلطنت د ساتلو په خاطر باید یو شمېر خلک لکه امین الله خان لوګري، عبدالله خان اڅکزي او د امیر دوست محمد خان وراره سردار شمس الدین خان هندوستان ته بوتلل شي، نو د پاچا امر صادر شو. شاه شجاع دغه خلک راوغوښتل او د مکناټن له دغه سپارښت څخه یې خبر کړل او د سفر لپاره د چمتو کېدو په هکله یې ورته وویل. دوی وویل، چې مونږ هېڅکله انګریزان نه پېژنو، چې دوی څوک دي او څه دي. مونږ ستاسې د لیک سره سم له امیر دوست محمد خان څخه جلا شولو او تاسې مو راوستئ او پر تخت مو کښېنولئ، خو ګورو چې ستاسو په زمنه کې هره ورځ د انګریزانو دوکه راڅرګندېږي او دا ستاسو د بدنامۍ لامل ګرځي، نو خلکو ته تاسې مسئول ګرځئ. پاچا، چې دا خبرې واورېدې اسویلی یې وایست او ورته ویې ویل: تاسې زما له زړه څخه خبر نه یاست. زه د انګلیسي ساتونکو او پیره دارانو په حکم محکوم یم او پرته له جوړ جاړي بله لاره نه لرم، ارمان ارمان چې هغه څه چې و هغه له لاسه ووتل او د خراسان (د افغانستان د هغه وخت نوم) د کار سرې، باغیرته خلک او همتناک سري لاړل او مړه شول. که نه زما دغه توره د اسلام توره ده، هر با همته سړی، چې وي را دې شي او هغه دې پورته کړي، ددغسې غازیانو لګښت زه په غاړه اخلم. په دې شرط، چې راز انګرېز ته ونه ویل شي. کله چې خراساني ورونو (پورتنیو ذکر شویو) دغه خبرې واورېدې، راووتل او نایب ملا مومن، ګل محمدخان، عبدالعزیزخان، محمدشاه خان، سکندرخان او عبدالسلام خان سره یې هم دا خبرې شریکې کړې[1]. میرمن سیل[1] هم

---

[1] - د نوای معارک کتاب، د میرزا عطامحمد تالیف، د کابل چاپ ۱۸۵۴ - ۱۳۳۱ش، ۱۴۹ - ۱۵۰ مخونه.

په خپل هغه کتاب کې. چې د «په افغانستان کې د دردونو تذکره» عنوان لاندې یې لیکلي، د کابل د پاڅون په هکله. چې د انګرېزانو چوڼۍ او سرتیري تر برید او ګواښ لاندې راغلل د شاه شجاع په هکله داسې لیکي: «... د ۱۸۴۱ کال په اکتوبر کې ډېر داسې اعلانونه ترلاسه شول، چې د افغانستان خلک یې د انګرېز په وړاندې جهاد ته بللي و او دا د شاه شجاع په لاسلیک و... شاه شجاع مکناټن ته وړاندیز وکړ، چې له پاڅون کوونکو سره روغه-جوړه وکړي او د هغوی مشران دې معاف کړي... انګرېزان چې د خلکو له پاڅون څخه په وېره کې شول غوښتل یې چې باالاحصار ته ولاړ شي او هلته پټ شي، خو شاه شجاع ونه منله او ویې ویل. چې مکناټن هم په بالاحصار کې نشم منلای او هم یې یوه لویه ودانۍ په دې نوم ونړوله. چې هغه غواړي ببرته یې ورغوي.

په نوامبر کې پاچا مجاهدینو ته د سولې وړاندیز وکړ... په پای کې مکناټن لارد اکلند ته ولیکل. چې شاه شجاع مونږ سره خیانت کوي، باید دوست محمد خان ببرته کابل ته راوغوښتل شي... په دسمبر کې پاچا د انګرېزانو په وړاندې ملي جهاد اعلان کړ. پاچا شاه شجاع نه یوازې دا، چې انګرېزانو نه څئ. بلکې د خلکو بېلا بېلې طبقې د انګرېزانو په وړاندې لمسوي... د ۱۸۴۲ په مارچ کې شاه شجاع جنرال سیل ته د جلال آباد تخلیې امر لیک واستاوه...»

په هر حال په افغانستان کې انګلیسي تشکیلات پراخه وو، مکناټن د صدارت چارې او الکساندر برنس د کورنیو چارو وزارت چارې پر مخ وړې. چې منشي یې موهن لال و. موهن لال له دې پرته د استخباراتو د ریاست دنده هم پر مخ بیوله. د انګلیس سیاسي استازي د افغانستان په ولایتونو کې د والي په توګه او د مکناټن د استازیو په توګه ملکي چارې پر مخ بیولې، خو توپیر دا و، چې مکناټن او برنس او د هغوی ملکي استازیو په نامه سره دغه دندې نه وې ترلاسه کړې، خو واک یې همدا و او عملاً یې همدغه دندې پر مخ بیولې. د انګلیس نظامي تشکیلات د کابل د سپه سالار «په پیل کې جنرال کین و او بیا وروسته له هغه الفنستن شو» په امر جوړېدل، کله کله به د چارو په ترسره کولو کې د مکناټن او سپه سالار تر منځ د نظرونو توپیر هم تر سترګو شو. له همدې لامله انګلیس حکومت له خپل دوهم خل تیري څخه ۳۵ کاله وروسته ټولې ملکي او نظامي چارې یوه لاس «نظامي حکومت» ته وسپارلې. هغه ډېر مهم کار، چې انګرېز سرلښکر په افغانستان کې وکړ، هغه دا و چې د لومړي ځل لپاره یې د افغانستان ملي پوځ چې پخوا به د بېلا بېلو سیمه ییزو مشرانو تر قومندې لاندې وو او هغه په منظمو قطعاتو تقسیم او بیا په سیده توګه د پاچا تر قومندې لاندې و، هغه ټول یې لغوه کړل او د اردو افراد یې د انګلیس په اردو کې ورګډ او په سیده توګه یې د انګرېزي افسرانو تر قومندې لاندې راوستل. په دې توګه ملي قومانداناتن تش لاس شول او ټول قوت د دښمن لاس ته ورغی. په نیول شویو ولایتونو کې هم نظامي چارې او د عمومي امنیت ساتنه او د هر ملي پاڅون ټکول د انګلیس د نظامي قومندانانو په

---

۱- F. Sale فلورشیا سیل د افغان انګلیس په لومړۍ جګړه کې په افغانستان کې وه او څه موده د انګرېزانو د بندیانو په ډله کې نیول شوې وه، چې دافغانانو تر څارنې لاندې وه په ۱۸۴۲ کې هند ته ولاړه او د مېړه له مرګ څخه وروسته انګلستانو هغې ته د مستمرۍ په توګه د میاشتې پنځوس پونډه ورکول او په ۱۸۵۳م کې مړه شوه

غاړه وو، خو سره له دې هم په مرکز او ولایتونو کې انګرېزان لا هم دې ته اړ وو، چې د خپلو سیاسي استازیو تر څنګ افغاني مامورین ولري، دا ځکه چې عامو خلکو وضعیت ته کتل، نو ځکه انګرېزانو هڅه کوله، چې تر ډېره بریده پورې یو شمېر چارې د افغاني مامورینو او حکامو په واسطه ترسره کړي، خو دغو حکامو او مامورینو یو ویښته هم د انګرېزانو له حکم او خوښې څخه سرغړونه نه شوه کولای که به شهزاده هم و. د بېلګې په توګه په کندهار کې د شاه شجاع زوی شهزاده فتح جنګ د انګرېز مسترلیچ یو استازی او نماینده و، خو شهزاده د لیچ ټولې خبرې نه منلې. لیچ به ډېر ټینګار کاوه، چې د مامورینو د مستمرۍ او معاشاتو په ورکولو کې او د مامورینو په مقررۍ او برطرفۍ کې باید شهزاده دده له خوښې سره سم کار وکړي. کله چې شهزاده نه منله. نو مکناټن پاچا باندې امر وکړ، چې فتح جنګ باید له ولایت څخه لرې او پر ځای یې د هغه ورور صفدرجنګ مقرر شي او همداسې وشول. جنرال نات هم شهزاده ته ډېر لږ درناوی هم کاوه. په کابل کې هم همداسې وشول. شاه شجاع د کابل حکومت یوه پاخه او تجربه لرونکي شخص ته ورکړ. هغه ملا عبدالشکور نومېده او شاه شجاع ته صادق سړی و. چې په هند کې هم ورسره و، ملا عبدالشکور، چې په اداره باندې پوهېده، په لږ وخت کې یې وکولای شول، چې عملاً خلك ډاډمن کړي، چې د هېواد آمر او ناهي پاچا دی او انګرېزان د لنډ وخت میلمانه دي، ډېر ژر به له هېواد څخه ووځي. هغه به په خپلو اجراتو کې د برنس هدایتونه د خلکو تر مخې څېړل او د هغو په ضد به یې عمل کاوه، خو بیا به یې په پټه بېرته انګرېزان پخلا او خوشحاله کول. هغه په پروان ولایت کې نامتو ملي خاین غلام خان پوپلزي (د کوپارود نوکر) په نوم ونوماوه او د غلې-دانې محتکرین یې بندیان کړل، خو مکناټن به د هغو ملاتړ کاوه او د موهن لال په واسطه یې ملا عبدالشکور وراته، په هر صورت. دغه سړي غوښتل چې لکه د (استولیپین) په شان د یو شمېر برسېرنو اصلاحاتو او درواغجنو اجراتو په واسطه خلك وغولوي او د ملت په سترګو پرده وغوړوي او د خپلې خاینې اداري عمر یو څو ورځې اوږد کړي. کبرجن انګرېزان یې له ځان څخه مرور کړل، نو د مکناټن له وړاندیز سره سم د شاه شجاع له خوا له دندې لرې شو او ملت د داسې سړي له حکومت چلولو څخه بې غمه شو، چې براځې پاچا ته صادق او خلکو ته یې خیانت کاوه. دده پر ځای مکناټن د کابل د حکومت لپاره محمدعثمان خان نظام الدوله غوره وباله او شاه د مجبوریت له مخې ومنله. محمدعثمان د انګرېز صادق او ریښتینی پلوي او د خلکو او پاچا د ګټو مخالف سړی و، خو دده بې باکه او هغه زړور اعمال، چې په ښکاره یې انګرېزان د افغانستان د حقیقي حکمرانانو په توګه ښودل، ددې لامل شول، چې په شعوري او یا هم په ناشعوري توګه یې یو داسې خدمت وکړ. چې د افغانستان په ګټه شو دا ځکه چې د شك پردې یې وغورځولې او د انګرېز د حاکمیت اصلي څېره یې بربنډه کړه. له همدې نېټې څخه وروسته خلك په پوره ډاډ په دې باندې وپوهېدل، چې پاچا عملاً نشته، بلکې د هېواد اصلي واك د انګرېزانو په لاس کې دی.

انګریزانو ورو ورو صادق او ملي خلك له پاچا او د دولت له چارو څخه لرې کړل او خاین بې وطنه او فرومایه خلك یې را میدان ته کړل. دا ځکه چې دا د انګرېزي سیاست یوه ځانګړنه وه. چې غوښتل یې د

Scanned by CamScanner

پام وړ هېوادونو کې ملي کارې خپرې وخت ونه مومي او د تبارز مخه يې ونیسي او په فشار، تبلیغ او سپکاوي سره هغوی په ټولنه کې خنثا کړي او ددې سرچپه، ناپوه او خاین خلك په زور او پروپاګند وړاندې او خپل تالي څټي را میدان ته کړي او شهرت ورکړي، ډېر داسې تش په نامه اتلانو منفي رولونه ولوبول، حال دا چې پرته له نانځکې او د وریځو له اوښانو بل څه نه وو. له همدې لامله و، چې انګرېزانو ډېر ژر اغېزمن مخور لکه حاجي خان کاکړی، (تاج محمد خان)، دوست محمد خان اسحق زی نایب امیر خان، ملا رشید خان، آقا حسین او نور ملي مشران بندیان او په دې لټه کې شول، چې نور دا ډول خلك هم له منځه یوسي، لکه نایب امین الله خان لوګری، حافظ جي کابلی، عبدالله اڅکزی او په لسګونو نور، دا ځکه چې دغو خلکو په پیل کې شاه شجاع ته د افغانستان د حقیقي پاچا په توګه کتلي وو او دوکه شوي وو او د هغه د راتګ هر کلی یې کړی و او د امیر دوست محمد خان او محمدزايي ورونو له واکمنۍ سره یې مخالفت کړی و، خو د شاه شجاع له واکمن کېدو څخه وروسته یې ولیدل، چې په اصل کې پردي ورباندې حاکمان وو او د پاچا یوازې نوم دی، نو ځکه ټول د پاچا او انګرېز پر ضد شول او د نجات د لارې په لټه کې شول. انګرېزان په دې پوهېدل، خو لږ اهمیت یې ورکاوه، دا ځکه چې د دوی دوکه زده وه او د خپلې تورې په زور غره وو.

په هر حال، انګرېزانو له عمومو خلکو سره د (ویرولو) له سیاست څخه کار واخیست ډېرې سزاګانې، بندي کول او تبعید کول یې وکړل. د انګرېزانو دغه تخویفي سیاست په یوه حال نه و، بلکې پړاو په پړاو زیاتېده او د هر پړاو په بدلیدو سره به اداري وضعیت ستوغ او لا خاینانه شو، تر څو چې خلك بېخي د ژوند له ښه کېدو څخه زړه ماتي شول، انګرېز غوښتل دوی په ویرولو سره په ناکامي قانع او بندګي او حقارت سره یې عادي وګرځوي. له بلې خوا له دې لامله، چې د انګرېزي لښکر لګښتونه ډېر زیات وو، په تېره بیا انګرېزي میرمنو ځان سره وینځې او نور خادمان درلودل، نو پرته له ګمرکي مالیاتو څخه نور ټول مالیات یې زیات کړل. په کابل کې یوازې د یوې نظامي چوڼۍ د اوړو لګښت په یوه ورځ کې دوه سوه هندي منه (چې د کابل ۱۷۰۰۰ پاوه کېږي) و. په هغه مهال کې د کابل د یو من اوړو بیه د کابل یوه روپۍ و. د سپینو زرو هره پخه یوه روپۍ له مسي شپېتو پیسو سره برابره وه، یعنې یو من اوړه شل پیسې کېدلې، خو په کابل کې د انګرېزي پوځ د مېشت کېدو پر مهال اوړه درې ځلې ګران شول او یو من یې په یوه کابلۍ روپۍ پلورل کېدل، حال دا چې انګرېزانو یو من اوړه په یوه نیمه کلداره پیرودل او یوه کالداره دوه کابلۍ روپیو سره برابره وه. په همدې توګه د نورو غلو-دانو او میوې بیه هم لوړه شوه، چې په ښار کې یو محتکر او سودخور قشر را پیدا شو، دې خبرې د انګلیس له سیاسي غوښتنو سره برابر والی درلود، دا ځکه د انګرېزانو په عقیده د یوه هېواد د ډېر ښه اداره کولو په خاطر عمومي بېوزلي او د خلکو اړ کېدل ډېر ښه عامل دی، او هغه ملت چې په بېوزلۍ کې ډوب شي، دومره ګنګس سربداله او په ځان پورې حیران شي، چې نور نو حاکمه دستګاه ته پام هم نشي کولای او که وغواړي، ځان له ډنډ څخه راوباسي، یو سوك بس دی، چې بېرته ډنډ ته وغورځول شي. د انګرېزانو په همدغه لنډه موده کې په کابل کې یو متل پیدا شو، چې ویل یې: "تر څو چې په یوه ورځ کې

په تصابي کې د پسه يو ورون بې پلورلو پاتې نه شي، دولت په ملت باندې د خپلې خوښې سره سم حکومت نشي کولای. دا متل هغه وخت سم وخوت، چې لا په افغانستان کې پانګوالي نه وه رامنځته شوې، نو ځکه ددې امکان نه و، چې يو داسې عمومي فقر رامنځته شي، چې د اقتصادي قهري سيستم زېږنده وي، بلکې افغانستان لا د فيوډالي او طبيعي اقتصاد او نيمه طبيعي اقتصاد په حالت کې وچې هر بزګر په خپل ځان متکي و، خو انګرېزانو سره له دې، چې ماليات بښه لوړ کړل، ګمرکي عوارض يې زيات نه بلکې کم کړل، تر څو د دوی زياته اندازه اخباس وارد شي او د هېواد داخلي توليدات او صنايع بېخي له منځه يوسي، کله چې پاچا مداخله وکړه او پر وارداتو يې ماليات زيات کړل، مکناټن پرې نه ښود او د سوداګرو، سودخورو او د لالانو ملاتړ يې وکړ. ددغو ظاهري فعاليتونو په لړ کې يو بل خاينانه سياسي فعاليت هم روان و، هغه دا چې انګرېزانو په ټولو هڅو سره د اشرافو فيوډالانو، قومي مشرانو، روحانيونو او ولس تر منځ دښمني، سيالي او د ژبې سمت، قوم، مذهب، سياست او نورو پلوه تعصب او نفاق ته لمن وهله تر څو ملت ضعيف او د ښکېلاك د پراختيا او ځېښناك د پياوړي کېدو لاره هواره شي. په دې برخه کې آن انګليسي پوهانو د «فارورډ پاليسي» ننګه کوله. د بېلګې په توګه نامتو انګرېز څېړونکو «راولنسن» چې په کندهار کې د انګليس سياسي استازی و او د ايران د بې ستون بېخي خطونه يې نړې ته ور وپېژندل او د افغانستان په هکله يې هم يو اثر ليکلی و، هغه هم د افغانستان د خلکو تر منځ په همدې غرض نفاق اچولو کې هڅه کوله.

کله، چې په ۱۸۳۹ کې شاه شجاع افغانستان ته راوستل شو او پر تخت کښېنول شو، د هغه انګرېز دوستانو په افغانستان کې د خپلو مقاصدو لپاره ورڅخه کار اخيست او بيا هغه په پټه په ناځرګند ډول تړې تم شو. خو د افغانستان ملت ددغې دستګاه په اصلي ماهيت او په دغه ناځرګندوالي هېڅ پوه نه شو، دا ځکه چې لارې ستونزمنې وې، لېږد بدل ځنډني و، ګړندي مخابرات نه و او د تبليغاتو وسايل هم د چاپه واك کې نه و. نو ددې لپاره، چې يو مهم خبر له مرکز څخه تر ولايتونو پورې ورسېږي، په مياشتو مياشتو په کار و، چې خبرونه به يواځې کاروانونو له يو ښار څخه بل ته وړل. يو کال په کار و، چې دا خبر کليو او بانډو ته ورسېږي، نو په ۱۸۳۹ کې خلکو همدومره واورېدل، چې شاه شجاع د افغانستان د سلطنت «حقيقي وارث» او هندوستان څخه راستون شوی دی او افغانستان ته راغلی دی، منتهی له هغه سره د هغه د پرنګي دوستانو يو لښکر هم راغلی دی، چې وروسته له لږ دمې جوړولو بېرته هندوستان ته ستنېږي. يواځې هغه سيمې، چې ددغه «بېرته راتګ» په لاره کې پرتې وې، له پېښو څخه پوره خبرېدې، دا ځکه چې هغوی په خپل هېواد کې پردي ځواکونه د سر په سترګو کتل، له همدې امله و، چې د کلات په لاره کې غلزيو ته د هغوی په ليدلو سره کرکه پيدا شوه او په غزني کې يې جګړه ورسره پيل کړه، کله چې پاچا کابل ته را ورسېده، زرمت او غلجيانو پاڅون پيل کړ، خو د انګرېزانو درنو توپونو او پوځونو هغوی وځپل او د دوی کلکې کلاوې ونړول شوې، ميجر اترم(۱) هم له زرمت څخه د بلوچستان د حکومت د پرځولو لپاره ور واستول شو. کله چې په همدغه کال (۱۸۳۹) کې شاه

۱- James Autram

Scanned by CamScanner

شجاع د خپلې پاچاهۍ د يوې مصنوعي ننداري د ښودلو لپاره د لغمان(۱) جلال آباد ته ولاړ. د کړ خلکو د سيدهاشم. خان په لارښودنه د شاه شجاع او هغه سره يو ځای د پرنګي پوځونو په ضد پاڅون وکړ. د (مکريګر) تر قوماندې لاندې د پاچا استول شوي پوځ د ښې وسلې په لرلو سره وکولای شول. چې دغه پاڅون وځپي، خو دې پسې يو ځل بيا خلکو د عبدالعزيز خان جبارخېل په لارښودنه پاڅون وکړ انګرېزانو کتل چې د هرې سيمې هر پاڅون بايد ډېر ژر د همدوی په سيمه کې وځپل شي او پرې نه ږدي چې هغه پراخ شي. نو ځکه يې د عبدالعزيز پاڅون هم ډېر ژر وځاپه او کلا يې ور ونړوله. د خوږياڼيو خلکو هم دغه ډول لاسپوخي دولت ته د ماليې له ورکولو ډډه وکړه. خو "کانلی" انګرېزي افسر ور واستول شو، خو له شاه شجاع سره ملګري شوي فيوډالانو منځګړيتوب وکړ. ورپسې غلزيو بيا هڅه وکړه، چې خانونه په وسلو سمبال کړي او د کابل جلال آباد لاره يې بنده کړه. نو شاه شجاع بېرته کابل ته راستون شو او په ۱۸۴۰ کې نوري نوې پېښې مخې ته راغلې.

## د پــاڅون پيل (۱۸۴۰)

کله، چې پاچا په جلال آباد کې و. د انګرېزانو کبر او ظلم يې اوقات ورتريخ کړ او بدو حرکاتو ته يې اړ کړ. د کونړيانو، خوږياڼيو او جبارخېلو له پاڅونونو څخه وروسته د افغانستان د خلکو په نامه د پاچا پر شمېر فرمانونه د انګرېزانو لاس ته ورغلل. په دغو فرمانونو کې خلك د انګرېز په وړاندې پاڅونونو ته بلل شوي وو. دغې پېښې د انګرېز په وړاندې د پاچا او انګرېز تر منځ پرده وځېرله او پاچا وويل، چې له سلطنت څخه بېزاره يم.
او غواړم حج ته ولاړ شم، خو هغه پرته د انګرېز له اجازې دا کار نشو کولای او له هېواد څخه نشو وتلای. همدا، چې پاچا بېرته کابل ته راستون شو، خپل يو باوري مامور منصور خان چاووش باشي يې په يوه بهانه کندهار ته واستاوه او امر يې ورکړ، چې د انګرېزانو د مخالفينو يوه ډله دې د پاچا په ملاتړ جوړه شي. انګرېزانو ته دا پېښه ښکاره شوه او منصور يې کابل ته راوغوښت. مکناټن په بندي پاچا باندې په غوسه شو او امر يې وکړ. چې منصور په خره سپور او په بازارونو وګرځوي. منصور به خلکو ته نارې وهلې، چې پاچا ته د خدمت پايله همدا ده!
د مارچ په مياشت کې مکناټن د کابل حاکم ملا عبدالشکور په جبري توګه له دندې څخه لرې کړ او د هغه پر ځای يې محمدعثمان نظام الدوله مقرر کړ. ددغه سړي چلند خلك ډېر ژر له شك څخه راوکښل او ټول پوه شول، چې پاچا فقط يوه وسيله ده اصلي حاکمان انګرېزان او مکناټن دی، نو په دې توګه د خلکو غبرګون پيل شو. په پيل کې مذهبي علماوو د جوماتونو په منبرونو کې د شاه شجاع نوم له خطبې وغورځاوه او وروسته ورپسې د پاچا د سکې په اړه دغه بيت د ښځو او نرو په ژبه خپور شو.

[1]- د پخوانيو اداري تشکيلاتو له لامله به ځينې وخت مشرقي، لغمان او جلال آباد يو د بل پر ځای او يو بل سره ګډ ليکل کېدل. (ژ)

Scanned by CamScanner

سکه ز د برسیم و طلا شه شجاع ارمنی
نور چشم لارد و برنس خاکپای کمینی.

خو په اصل کې د شاه شجاع په سکه باندې دغه بیت په دې ډول و:

سکه زد برسیم و زرو شتر از خورشید و ماه
نور چشم در دران شه شجاع الملك شاه

په دې توګه یو ځل بیا د افغانستان د ملي ځانګړتیاوو یوه بله ځانګړتیا را برسېره کېده او هغه دا وه، چې د بهرنیانو په وړاندې ښېلا ښېل قومونه او ښېلا ښېل طبقات سره یو کېدل. چې بزګران پیشه وران، اکثریت فیوډالان او روحانیون هم ورسره وو. دغه نوی غورځنګ له کابل څخه پیل شو او ورو ورو ښار په ښار او ولایت په ولایت خپور او ټول افغانستان یې ونیو. مکناټن وارخطا شو یو څو نامتو څېرې (لکه حافظ جي د میرواعظ زوی، آغا حسین کابلی، محمود خان بیات، ملا رشید خان، نایب امیر خان، حاجي دوست محمد خان کندهاري او آن ملا نصوح کندهاري او یو شمېر نور) یې د اپریل په میاشت کې په کابل جیل کې واچو. خو له دې څخه مخکې غلجیو د کوه دامن او کوهستان خلکو (په کاپیسا او پروان کې) پاڅون پیل کړی و.

غلجیو د جلال آباد - کابل لارې تر ګواښ لاندې راوستې، انګرېزان اړ شول، چې په مارچ میاشت کې د ختیځ لورې ته د لارود پرانیستلو په موخه یو پوځ واستوي، خو په خورد کابل کې د غلجیو تر برید لاندې راغی، او کلك کلك وټکول شو. د کوهستان خلکو د نامتو مجاهد میرمسجدي خان تر مشرۍ لاندې او د نجراو خلکو د سلطان محمد خان تر مشرۍ لاندې پاڅون وکړ. په دې توګه ددغو سیمو هره کلا یوه مورچه وګرځېده. مکناټن اړ شو، چې خپل تر ټولو غښتلي جنرال رابرت سیل د جون په میاشت کې د خلکو د یوه عمومي پاڅون د ځپلو په خاطر کوهستان او کوه دامن ته واستوي. په داسې حال کې، چې د کلات غلزیو د مې په میاشت کې له کندهار څخه کابل ته را روان د خزانې کتار تر برید لاندې راوستی وا وهغه یې نیولی و او د هغه ساتونکي (افسر کلنل هیرنګ) یې اعدام کړی و. په کندهار کې هم خلکو (میجر(۱) کلب بوزن) وژلی و، همدا رنګه د حصارك غلجیو په تیزین کې د دښمن پوځ د جولای په میاشت کې تر برید لاندې راوست. د جولای په همدغې میاشت کې د کابل ددرې تنو او سپېدونکو احمد برنج فروش، میرحسن مفتي او میرزا امام ویردي د مخورو څېرو هڅولو او پند اخیستو لپاره یو اعلامیه خپره کړه، چې پکې راغلي وو: "ټول نامتو مخور به د بېرژر هند ته تبعید شي، نو ځکه د پلازمېنې نامتو څېرې باید مخکې تر مخکې د ځان د ساتلو لپاره چمتو شي."

مکناټن د دغې اعلامیې د رد لپاره ډېر ژر بله اعلامیه خپره کړه. د ۱۸۴۰ کال په اوړي کې په کابل کې آوازه شوه، چې فراري امیر دوست محمد خان یو ځل بیا له ماورالنهر څخه را اوښتي او له افغانستان څخه د انګرېزانو د شړلو او د یوه پوځ د جوړولو په لټه کې دي. خلکو تېر په هېر وشمېرل او دا دی اوس یې د هغه د راتګ هیله لرله په حقیقت کې امیر هلته نور د نصرالله خان له سختۍ په تنګ شوی و، له

---

۱ میجر د انګرېزانو یوه عسکري رتبه وه، چې اوس یې په پاکستان کې استعمالوي. (ژ)

بخارا ځخه تښتیدلی و او کندز ته راغلی و. د تخارستان سیمه ییز والي میر مراد بیګ هغه ته پر بنډ هر کلي ویلی و او دښمن سره د جهاد په خاطر یې یو پېنځه زریز پوځ هم ورته چمتو کړ امیر دوست محمدخان زړور شو او له دغه پوځ سره مخ په بلخ راغی د خلم سیمه ییز والي میر ولي بیګ پېنځه زره سپور پوځ ورسره کړ. په دې توګه امیر دوست محمدخان د یوه ازبکي سپاره پوځ په سر کې راغی او خپل زوی سردار محمد افضل خان یې ددغه پوځ د پیشدار په توګه را مخکې کړ، خو دغه پوځ توپچي ځواك نه درلود په هرحال، همدا چې انګرېزان خبر شول، نو په بیړه یې د مخې د نیولو هڅې پیل کړې. د انګرېزانو یو پوره سمبال پوځ د اګست په میاشت کې په «باجګاه» کې د امیر له پیشدار سره مخامخ شو. دغه سمبال پوځ په خپل توپچي ځواك سره د امیر محمد افضل خان ځواکونه په شا وتمبول امیر دوست محمدخان په خپله د سپتمبر په میاشت کې دښمن سره د جګړې په خاطر بامیان ته را ورسېد. انګرېزي ځواکونه د بامیان له سیاسي استازي ډاکتر لارد سره د بامیان د تینګولو لپاره ورغلل او یوه کلکه جګړه ونښته. د انګرېزانو توپچي امیر پسې واخیست. امیر دوست محمدخان د سپتمبر په ۱۷مه ماتې وخوړه او ایبك او ورپسې تاشقرغان ته ستون شو او سمدستي یې جګړې ځخه لاس واخیست. کله چې خبر شو، چې د کاپیسا پروان او نجراو خلك له انګرېز سره په جګړه کې دي، نو د اکتوبر په میاشت کې له یوې داو طلبې رسالې سره د کوهستان خوا ته راغی. له دې ځخه یو میاشت مخکې انګرېزانو یو نوی پوځ د تیمور او جنرال سیل په مشرۍ ددغې سیمې د کرارولو لپاره استولی و، الکساندر برنس هم په همدې لښکر کې و تر ځو د مبارزینو له مشرانو سره د سیاست او روغې جوړې له لارې چلند وکړي، په چاریکارو کې هم د انګرېزانو دایمي هډه وه او د انګرېزانو سیاسي استازي په لغماني «د چاریکارو درې میلې» کې پاتنجر و. له دې ټولو سره سره انګرېزان د کوهستان له بریدونو دومره په وېره کې و، چې د اکتوبر په پیل کې یو بل مرستندوی پوځ هم کاپیسا ته واستاوه. همدغه مرستندوی پوځ په لاره کې د بابه قشقار، قره باغ او ګاه درې ټول کلي کورونه او باغونه وسوځول او د اکتوبر تر پېنځلسمې پورې یې کلي ټول ونړول او د اکتوبر په ۲۳مه په آغه سرای کې ځای پر ځای شول، خو له دوی ځخه مخکې «د سپتمبر په ۲۸مه» د سیل پوځ د تتمدرې په برخه کې «له چاریکارو ځخه لږ پورته» د علي خان مجاهد کلا باندې ورغلي وو.

ددغې کلا ننګیالو د انګرېزانو د سمبال پوځ او توپچي په وړاندې په پوره مېړانه جګړه کړې وه، چې دښمن یې فکر هم نشو کولای، په پای کې کلا د توپونو د ډزو له لامله ونړېده او له خاورو سره برابره شوه. علیخان له جنګیالیو سره یو ځای د دښمن د مړو له سرونو همداسې تېر شو او په دغو مړیو کې د کپتان ادوارد کنولي مړی هم پروت و او کوهستان ته ولاړ او له نورو مجاهدینو سره یو ځای شو. سلطان محمدخان نجراوي، چې د دښمن د پوځ د شمېر له زیاتوالي ځخه خبر شو له کوهستان ځخه نجراو ته ولاړ، چې ځه نور داو طلبان هم راټول کړي، هلته نامتو مجاهد سید میر مسجدي خان په خپله کلا کې په جل ګاه کې د مجاهدینو د مرکز په توګه پاتې شو. په دغه جنګي کلا کې پنځوسو ننګیالیو سنګر نیولی و.

Scanned by CamScanner

انګرېزان، چې د مير مسجدي خان وينو ته تږي وو او د هغه د وژلو لپاره يې په زرګونو کالداري انعام ټاکلی و، ناڅاپه او پټ د اکتوبر په دريمه له يوه ځواکمن لښکر سره په دغه کلا ورغلل او هغه يې کلابنده کړه. ميرمسجدي خان له خپلو جنګياليو سره د تېر کشونو شانته کښېناستل جګړه پيل شوه. د دغو مجاهدينو يوه ګولۍ هم نه خطا کېده، خو د دښمن توپچي ډېر پياوړي و او د کلا ديوال يې ونړاوه. انګرېزي لښکر په نړېدلې برخه ورننوتل مير مسجدي خان او ملګرو يې د تورو په زور مخنيوی نه ودانګل. لاس او ګريوان جګړه پيل شوه. د دښمن هره ډله به را رسېده او جګړه به يې پيل کوله. مير مسجدي خان د دښمن په نېزه تپي شو او د نړېدلي ديوال په برخه کې لکه د تپي زمري په شان له دښمن سره په جګړه اخته و. کله چې انګرېزانو د يوې کوچنۍ ډلې ننګيالو دومره مېړانه وليده نو د پرمختګ جرات يې له لاسه ورکړ، دا ځکه چې د ديوال نړېدلې برخه کې ډېر پوځ نشو ننوتلای، نو په دې توګه يرغلګر په شا تګ ته اړ شول. مير مسجدي خان له خپلو ملګرو سره يو ځای له کلا څخه ووت او د نجراو خوا ته ولاړل. د مسجدي خان دغه ننګ او زړورتوب د کوهستان د حماسي ترانو يوه برخه وګرځېده. دغه حماسي ترانې دا دي له سلو کالو څخه د زياتې مودې په ترڅ کې لا اوس هم د خلکو په ژبو او زړونو جاري او ساري دي. کله چې ځو ورځې وروسته د ميرمسجدي خان ټپونه روغ شول، له يو شمېر مجاهدينو سره له نجراو څخه ګلبهار ته راغی او د جهاد جنډې يې ورپوله. دا مهال خبر شو، چې امير دوست محمد خان (دده او د سلطان محمد خان له بلنې سره سم) له خُلم څخه له يوې ازبکې رسالې سره يو ځای رانږدې شوې دي، په حقيقت کې امير دوست محمد خان نجراو ته رانوتلی و، چې سلطان محمد خان او د سيمې خلکو ورته هر کلی ويلی و او د مجاهدينو له يوه ځواك سره د پروان په لوري روان و، مير مسجدي خان او د کوهستان خلکو امير ته د يوه ملي لارښود په توګه هر کلی ووايه. دا مهال امير د يوې شنې جنډې په رپولو سره له زرګونو ننګيالو سره د ملي لښکر په مخه کې روان شو. دا مهال د دښمن د پوځ يوه برخه او شهزاده تيمور سره يو ځای تر باغ علم پورې مخکې راغله او جنرال سيل په آغه سرای کې مورچې جوړې کړې. برنس او موهن ددغه ځای د کليو په منځ کې د بې اتفاقۍ اچولو لپاره کارکاوه. د نوامبر په دوهمه نېټه ملي لښکرو په پروان کې پر دښمن باندې يرغل وکړ. د هغوی درې سپاره کنډکونه يې وځپل او د انګرېزانو څو تنه افسران (فريزر، پرادفوت، کريسي او مستر لارد) يې مړه يا ټپيا کړل. کله چې جنرال سيل دغه ماتې واورېدله، له آغه سرای څخه چاريکارو ته په شا شو او مکناټن په کابل کې له امير دوست محمد خان سره د روغې-جوړې په لټه کې شو. ملي سرتېرو لا هم تورې وهلې او له هغوی سره د امير زوی سردار محمدافضل خان هم و، خو امير دوست محمدخان څه وکړل؟

کله، چې په پروان کې د خلکو ځواك دښمن ښه وځاپه او ملي مبارزين د پرمختګ په حال کې وه يو ناڅاپه امير له شنه توغ لاندې ورك شو، څومره يې چې ولټاوه پيدا نه شو. په داسې حال کې، چې امير له خپلو دريو تنو ځانګړو افرادو سره په يوې نرۍ لاره په آس ځغلېده او مخ په جنوب په يوه نامعلوم لوري روان وو. د امير دغه له لېونتوب څخه ډکه تېښته دومره پټه او ناڅاپي وه، چې آن خپل زوی سردار

محمدافضل خان یې هم د جګړې په ډګر کې بې خبره پرېښې و. امیر پرته له خبرو کولو آس ځغلاوه تر څو چې په دښته کې حاجي کلا ته ورسېد. دا مهال یې خپل دوه تنه ملګري د کابل بازار ته ولېږل او هغوی ته یې وویل، چې د سفر یو څه ضروري سامانونه واخلي او بېرته راشي. دا ځکه چې هغه غوارې، چې د ځواکونو د چمتو کولو په خاطر پکتیا ته ولاړ شي او هغه مهال انګرېزان له هېواد څخه وشړي. کله چې دغه دوه تنه ښه لرې ولاړل او له سترګو پناه شول. امیر دوست محمد خان له خپل باوري ملګري سلطان محمد سره آسونه په تراټ کړل او په بېړه مخ په کابل روان شول. د ۱۸۴۰ کال د نوامبر په څلورمه مازیګر مهال امیر دوست محمد خان د کابل د بالاحصار دروازې ته ورسېد. کله چې مکناټن له خپل ګارد سره له چکر وهلو راستون شو او خپلې ودانۍ ته ننوت، نو دا مهال د امیر په امر سره سلطان محمد ور وړاندې شو او مکناټن ته یې وویل: "امیر دوست محمد خان را ورسېده، دا خبره دومره حیرانوونکې وه، چې مکناټن یې هك پك کړ، ژر یې وپوښتل له لښکر سره؟ سلطان محمد ویل نه. دا مهال امیر دوست محمد خان مخې ته ورته ودرېد مکناټن هغه ولیده. دواړه له آسونو څخه راکوز شول او یو بل ته یې لاسونه ورکړل. دواړه هغې ودانۍ ته ننوتل. چې په خپله امیر جوړه کړې وه. مخکې له دې، چې خبرې پیل شي، امیر خپله توره له ملا څخه راوویسته او دښمن ته یې تسلیم کړه. مکناټن توره واخیسته او ورته ویې ویل: امیر صاحب تاسې هندوستان ته ځئ؟ امیر ځواب ورکړ، اوس چې تاسې ته راغلی یم هر څه چې وایاست هغه کوم. مکناټن وویل د امیر زوی سردار محمد افضل خان زموږ عسکرو سره په جګړه دی، ورته ولیکه چې جګړه پرېږدي او تاته راشي. امیر خپل چاقو او عینکې د نښې په توګه سردار محمدافضل خان ته واستول. هغه خپل پلار ته راغی(۱).

په دې توګه یو ځل بیا د امیر دوست محمد خان له پند او عبرت څخه ډکه ډرامه پای ته ورسېده، مکناټن اته ورځې نور هم امیر په بالاحصار کې وساته، تر څو چې سردار محمدافضل خان د جګړې ډګر پرېښود او خپل پلار ته راغی. غزني ته د امیر د ۱۴۹ کسیزې کورنۍ د غړو د پرېښودلو امر ورکړل شو. په دې توګه د ۱۸۴۰م. کال د نوامبر په ۱۲مه نېټه امیر دوست محمد خان محبوساً د کپتان نکلسن تر څارنې لاندې له یو ټولي سپرو سره یو ځای د جلال آباد له لارې هندوستان ته ولېږل شو. په دې وخت کې دده بندي شوې کورنۍ غړي هم له غزني څخه پېښور ته ورسېدل او ورسره یو ځای شول او ټول کلکتې ته تبعید شول، انګرېزانو هغه په اوړي کې لودیانې ته واستاوه او د افغانستان د تاج او تخت پر ځای یې په کال کې درې سوه زره روپۍ څېره ورته مقرره کړه. د هغه له ټولې کورنۍ څخه په کابل کې یواځې دده ورور نواب جبار خان. وریرونه یې نواب زمان خان او سردار محمد عثمان خان له خپلو کورنیو سره پاتې شول او بس.

خو کله، چې د پروان او کاپیسا ننګیالي لومړی د امیر له تري تم کېدو او بیا وروسته د هغه له تسلیم کېدو څخه خبر شول، لکه د ټول افغان ولس په شان هك حیران شول، خو زړونه یې مات نه کړل، او د دښمن خپلو ته یې دوام ورکړ. د امیر له تېښتې دوه ورځې وروسته ملي ځواکونو د چاریکارو په لغماني

---

۱. سراج التواریخ، لومړی ټوك، ۱۵۸ - ۱۵۹ مخونه.

Scanned by CamScanner

سیمه کې په دښمن باندې یرغل وکړ، پاتینجر لکه مرغۍ له هغه ځایه د چاریکارو چونۍ ته والوت. ملي سپاهیانو بې له ځنډه په چاریکارو یرغل وړ او د نوامبر په شپږمه یې د دښمن چونۍ کلابنده کړه. انګرېزي لښکر مات او پاتینجر تېښتي شو. دې پسې په بله ورځ له انګرېزانو څخه یوه بله کلا (د خواجه میر کلام) هم ونیول شوه. د نوامبر په دیارلسمه د چاریکارو په چونۍ کې پنجابي پوخ د انګرېزانو په وړاندې پاڅون وکړ، قوماندان هارتن یې تېښتي کړ، پاتینجر له یو شمېر سرتېرو او افسرانو سره د کابل خوا ته وتښتېد. د سنجد درې له سیمې وروسته پاتنجر او هارتن نور سرتیري پرېښودل او په خپلو له کړو وړو لارو څخه په افغاني جامو کې مخ په کابل لاړل، چې په ډېرو ستونزو سره یې خانونه په بې بې مهرو کې د انګرېزانو عمومي چونۍ ته ورسول. د انګرېزانو نور پاتې سرتېري او صاحب منصبان، چې مخ په کابل راتلل د (زمه) په سیمه کې له اووه تنه افغانانو نارینه او ښځینه وو سره مخامخ شول او هغوی ورباندې برید وکړ ډېر ژر د زاخېلو -د فضل آباد او کټه خېلو خلك وربانديې خبر شول او میر مراد پاچا او عباس قره په مېړانه جګړه ورسره وکړه، دا مهال د خواجه چاشت د کلي ښځو له لرې څخه دغې جګړې ته کتل. د دښمن یو سل او یو مړي د جګړې په ډګر کې پاتې شول، ځلورو انګرېزانو له ویرې د اسلام کلمه وویله او پرېښودل شول، پاتې سرتیري مخ په کابل وتښتېدل. یوه میاشت وروسته (په دسمبر کې) محمداخترخان علي زایي د هلمند د غاړې د ولسونو په سر کې ودرېد او د جهاد جنډې یې پورته کړه. دوی هلته جنرال نات او راولنسن ډېره موده بوخت وساتل په همدې میاشت کې کله، چې شاه شجاع له انګرېزي لښکریانو سره په جلال آباد کې تفریح کوله، د سنګوخېلو خلك د پاچا او د هغه د انګرېزي دوستانو په وړاندې پاڅون وکړ. البته انګرېزانو ډېره هڅه وکړه، چې اوربند وکړي شاه شجاع هم لږ وروسته له جلال آباد څخه کابل ته راغی او دا وخت ۱۸۴۰ کال هم پای ته ورسېد او نوی ۱۸۴۱ کال کې په انګرېزانو داسې پېښې راغلې، چې د انګلستان او استعمار تاریخ یې په یاد نه لري.

## د خلکو انقلاب او د انګرېزانو ماتې (۱۸۴۱ – ۱۸۴۲)

په ۱۸۴۱م. کال کې، چې کله په افغانستان کې د انقلاب لمبې بلې شوې، لا دا مهال په کابل کې د انګرېزانو شل زره پوځ، په کندهار کې پینځلس زره پوځ- په جلال آباد کې پینځه زره او په غزني، کلات او بامیان کې لس زره پوځ مېشت و، چې ټول پنځوس زره تنه کېدل. ددې اووه، نهه ۱۲، ۱۸ او ۲۴ پونډه درانه توپونه، چې هاوتزر بلل کېدل، سارایي توپچي ځواك سواره نظام کنډکونه، غرني کنډکونه او کلکي مورچې درلودې، چې جګړې ته د تیارسئ په حالت کې وو. دغه اردو سره اویا لوی او کوچني توپونه، دان پور رخدار توپونه، ټوپك، تومانچې، کرچ، سرنیزې، تورې او میګزین وسله وه دوی هر راز ګولۍ، شرنپل او ربا غورځوونکي لرل. خو ددې په وړاندې له افغانانو سره یوازې اوږده پخواني ټوپك، تورې او لنډ کرچونه وو، دوی ډېر لږ شپږ پونډه توپونه لرل، دغه ټولې وسلې په خپله په افغانستان کې جوړې شوې وې او یو څه نا څه خام توکي یې له هندوستان څخه راتلل. د باروتو جوړولو کارخانې هم هملته وې، خو مهمه داوه، چې د افغانانو معنویات د دښمن په پرتله ډېر زیات پیاوړي وو. هر افغاني

Scanned by CamScanner

سپور پوځي به یو پلي له ځان سره او څتاوه او د جگړې ډگر ته به یې ځان سره بیوه. افغاني توپول ویشتونکو له ۳۰۰ متره څخه لرې دښمن نه خطا کاوه. افغاني توپچیانو د دښمن د نهه پونډه توپونو گولۍ غنیمت کولې او هغه به یې په څټك باندې ماتې او شپږ پونده گولۍ به یې خپلو توپونو ته ورځغلولې. دوی به په ژمي کې یوه پوستینچه اغوستې وه او د ستوانو یو برغنډ او یا د غنمو د نینو څو موټې به ورسره وو او د صراحي کدو دننه به یې باروت اچولي او ملا پورې به یې تړلي وو. سپرو سرتیرو به په خپلو خورجینو کې خپلو آسونو ته یو څه بوس هم لرل. دغه سرتیري به په پرانیستې هوا کې او څینې وخت به په واورو باندې بیدیدل او یو موټی نینې او ستوان به یې خوراك و. یوه انگرېز جنرال (میجر جنرال ایري) د افغاني تنگیالو په هکله لیکلي و: "باید انگلیسي عسکر د اور لرونکې وسلې استعمالول له افغانانو زده کړي، افغانان ښه نښه نیسي او ډزې ډېر لږ هوایي ځي، حال دا چې زمونږ سرتیري بې هدف هوایي ډزې کوي. لیډي سیل. چې د کابل جگړې د سر په سترگو لیدلې. هغې هم په دې هکله یو څه لیکلي دي: هغه څه، چې د افغانانو د بې عاطفې والي او ویرې په هکله ویل کېږي، یواځې د انگلیس نظر دی. حال دا چې افغانان یو پیاوړی او ډېر ښه قوم دی او له وژل کېدو څخه نه ویرېږي. افغان بې له وېرې د توپ په وړاندې درېږي او خپله توره په کار اچوي، کله یې، چې یو مورچل ونیو بیا د هغه بېرته نیول ورڅخه ډېر ستونزمن کار دی."

همدا لیډي د بي بي مهرو (بي مارو) د جگړې په هکله، چې په هغې جگړه کې انگرېزان له ماتې سره مخامخ شول، لیکي: "افغاني مبارزین د غونډۍ له پاسه په انگرېزي لښکرو داسې راتوی شول، لکه لېوه، چې د پسونو په رمه ورشي."

البته افغاني مبارزین بې ملاتړې نه وو، ښځو ورته ډوډۍ پخوله او کله به، چې د دښمن پوځ له کوڅو څخه تېرېد دوی به په لوټو او تیږو ویشتل یا یې جوش اوبه ورباندې تویولې. ملایان به کلیو کې گرځېدل او څمکوالو او غله لرونکو ته به یې ویل، چې په کوپارو باندې غله- دانه مه پلورئ. د دولت رسمي ملازمینو او د دفترونو کار کوونکي د افسرانو حال احوال او د دښمن د رسمي لیکونو پټ خبرونه ملي اردو ته رسول. د ولس بېلا بېل پاړکیو په یو موټیتوب سره خپل ځان او مال د هېواد د آزادۍ لپاره سپارلی و. نو ددې ډول زړور ولس برې پر پردي دښمن خامخا و. په تیره بیا د دوی د جگړو یوه ځانگړې او تاریخي طریقه دا وه، چې په دښمن د شپې د تیارې داړې او گوریلایي بریدونه، چې دښمن به یې په غوسه کړ او په عجب مهارت به یې تر سبا تارومار کړی و. ددغو خلکو یو عجیب جگړه ییز تاکتیك دا و، چې پراخو دښتو کې به یې لومړی دښمن ته لاره ورکړه. کله به چې دښمن درې او غاښې ته ورسېد، نو هلته به یې ارتباطي کرښې ورباندې پرې کړې په پرله پسې بریدونو به یې له منځه یوور. تر کومه، چې تاریخ مونږ ته را یادوي د افغانستان د خلکو دغه ځانگړتیا او تکتیك سکندر ډېره موده سرگردان کړی و. دوی په همدې تکتیك عربان هم په پرله پسې توگه وځپل. چنگیز اړ شو، چې له یوې سیمې څخه د تېرېدو پر مهال له دې ډول گوریلایي جگړې څخه د خلاصون لپاره په هغې سیمې کې یو ژوندی موجود هم پرې نه ږدي. اوس، نو انگرېزان هم له دغو خلکو او له دغو تکتیك سره مخامخ شوي وو، نو ماتې یې

ځني وه. استعماري تاریخ لیکونکي داسې لیکي، چې ګواکې انګرېزانو ځکه افغانستان پرېښود، چې پر ټبر افغانستان نیول د پوځ په دومره لوړ لګښت سره نه و په کار، خو واقعیت سرچپه دی. دا ځکه چې د انګرېزي ځواکونه افغانستان ته ننوتل، نو دوی به یواځې هغه وخت پرمختګ کولای شو، چې ځل به چې دولت به ورسره و، خو کله به چې له ولس سره مخامخ شو، نو خامخا به له ماتې سره مخامخ کېده. انګلیس هر ځل د خلکو په زور وتلو ته اړ شوی او ولسي لښکر ماتې ورکوله، کله چې د یو هېواد ولسونه د بهرنیو نیواکګرو په وړاندې وسله وال پاڅون وکړي، د نړۍ هېڅ ښکلاکګر یې نشي نیولای. په هر حال، کله چې د ۱۸۴۰ کال د نوامبر په میاشت کې امیردوست محمد خان تسلیم شو. ورو ورو دغه خبر افغانستان کې خپور شو. د ۱۸۴۱ کال په دریو لومړیو میاشتو کې خلکو په هر کلي او ښار کې د عمومي پاڅون لپاره ځانونه چمتو کول او تول دې ته په تمه وو، چې ژمی تېر شي. البته په ژمي کې هم ځای ځای بریدونه کېدل، خو ددغه کال په اپریل کې د کلات غلجیو د ګل محمدخان په مشرۍ د کندهار د انګلیسي سیاسي استازي، مستر لیچ د سیاسي تفتیش مخه ونیوله. سره له دې، چې د کلات انګرېزي عسکرو تر تفتیش لاندې یوه کلا په توپ والوځوله او جنرال نات یو سپور ټولګی او څلور توپونه د هغوی ځپلو ته ور ولېږل. په دې توګه د مې په میاشت کې د خلکو او انګرېزانو جګړه پیل شوه. سره له دې، چې د ګل محمدخان ځواکونه په تورو او کرچونو سره د دښمن په توپونو ورغلل، خو ډېر یې ووژل شول. ورپسې د جون په میاشت کې په کندهار کې د محمداختر خان علیزایي په مشرتوب خلکو بل پاڅون وکړ او انګرېزانو سره یې څو څو ځله جګړه وکړه. راولنسن په څرګنده د روغې-جوړې په بهانه، خو په پټه په خلکو کې د نفاق اچولو په خاطر خپل مرستیال (اهلبت) د ولس منځ ته واستاوه او مکناټن راولنسن ته ولیکل، چې اختر خان ونیسه او په دار یې وځروه. وزیر یارمحمدخان له هرات څخه ابدالي مشرانو ته ولیکل، چې د اختر خان ملاتړ وکړي او هم یې ژمنه وکړه، چې په خپله به د مرستې په خاط له یوه لښکر سره له هرات څخه ورشي. انګرېزانو له اخترخان سره د روغې-جوړې لپاره ډېره بیړه کوله او اخترخان د ځواکونو د لا پیاوړي کولو لپاره ګرشک ته ولاړ، د انګلیسانو یو توپچي ځواک او دوه کنډکه عسکر د خلکو د پاڅو د ځپلو لپاره ګرشک ته هم پسې ورغلل. ملایانو او دیني علماوو خپلو ځادرونو څخه د جهاد توغونه جوړ کړل، چې په هغو باندې یې لیکلي وو: "خدای مونږ لره بس دی" د ولسونو یوه مشر محمداکرم خان له خپلو یو زر او دوه سوه داوطلبو ټنګیالو سره او له څلورو کوچنیو توپونو سره خان ملي اردو سره یو ځای کړ. جګړه د هلمند تر غاړې ونښته. انګرېزانو د شهزاده صفدرجنګ تر بیرغ لاندې نوی لښکر ور واستاوه او د لویې توپونو په زور- یې ملي ځواکونه شاته وتمبول.

محمد اکرم د نورو ځواکونو د چمتو کولو په خاطر د هراوود ته ولاړ. جنرال له یوه ځواکمن لوی پوځ او ۱۸ پونډه توپچي سره ورپسې دهراوود ته ورغی، چې شخصاً ددغه ځواک په سر کې و. هلته یې د محمداکرم خان د اوسېدو ځای پیدا کړ. هغه یې ونیو او د کندهار په ښار کې یې د توپ خولې ته وتاړه. دروسته بیا د هغه میرمنې ټیکری سر پورې وتاړه او د خپل خاوند آس یې واخیست او د مبارزې توغ یې

هسك کړ او مخامخ د انګرېز پر لښکر ورغله. ناټ يو شمېر بنديان کړي خانان د خپلو عسکرو په لاس بنديان او کابل ته واستول. په خپله بېرته کندهار ته ستون شو. د غزني خلك هم د جولايي په مياشت کې پاڅېدل او د کندهار لاره يې وتړله. کله چې لفتننت د کندهار له بنديانو سره راورسېده، خلکو وربانديې يرغل وکړ، په خپله لفتننت ګرافورد او د هغه ځواکونه يې له منځه يووړل او بنديان يې ورځخه خوشې کړل. د اګست په مياشت کې بيا د غزني خلکو د انګرېزانو د عسکرو په هغه يوه ټولي باندې بريد وکړ، چې له کندهار څخه د کابل خوا ته راتلل او هغوی يې له کپتان ودبرن سره له منځه يووړل. انګليسي نامتو پوه راولنسن په کندهار کې د پلوپلزيو د خانانو تر منځ سل زره روپۍ وويشلې تر څو هغوی د بارکزيو په وړاندې استعمال او نفاق پکې واچوي، خو دغه فساد کوم ځای پورې ونه رسېده او د دوارو قومونو مبارزين د بهرني دښمن په وړاندې يو موټی شول. ميرزا احمد خان د ملي ځواکونو ملي لارښود و. د ابداليانو مشر عطامحمد خان و او د غلجيو مشر ميرعلم خان و. انګرېزانو د بره هڅه وکړه، چې د عطامحمد خان مجاهدينو ته د ارغند او په جګړه کې ماتې ورکړي، له دې ټولو هڅو سره سره انګرېزانو ونشو کولای، چې د مکناټن له امر سره سم کابل ته نوی مرستندوی پوځونه واستوي. دا ځکه چې خلکو د کابل-کندهار- غزني او کلات تر منځ لارې تړلې وې او د جنرال ناټ له خوا کابل ته تلونکي ځواکونه کابل ته ونه رسېدل او د يو شمېر تلفاتو په ورکولو سره بېرته کندهار ته ستانه شول.

همدا رنګه په زمينداور کې يو ځل بيا پاڅونونه وشول او لېږل شوي انګرېزي پوځونه يې له منځه يووړل يو ځل د کندهار شا و خوا خلکو د کندهار پر ښار بريد وکړ او انګرېزان يې ښه وټکول او يو څه توپونه او وسله يې ورځخه ترلاسه کړه. آن دا چې تاج محمد خان الکوزي او قلندرخان کاکړي د کندهار د هراتي دروازې سره د يوه انګرېز سر ور پرې کړ. انګرېزانو قلندرخان ونيو او د ښار په چوك کې يې غرغره او راځوړند کړ. په فوشنج کې هم خلکو پر انګرېزي پوځ يرغل وکړ او څو سوه تنه يې ور ووژل او د هغوی خزانه يې لوټ کړه.

يو ځل د غزني خلکو د ۱۸۴۱ کال په جولايي کې پاڅون پيل او د کابل-کندهار لاره يې وتړله او هغه دوه کنډکه عسکر او د هغوی افسران يې، چې په دغه لاره تلل له منځه يووړل، بل ځل يې د نوامبر په مياشت کې کله چې کابل کې پاڅون پيل کېده، په غزني کې د دښمن چونۍ کلابنده کړه. ددغه پاڅون مخکښان ملك محمدجان، سلطان خان او تاج محمد خان وو. دوی توپونه نه لرل او وسلې يې هم لږ وې. نو ځکه دوی تر پينځو مياشتو پورې هم په غزني ښار بری ونه موند. کله چې د غزني مبارزينو له نايب امين الله خان څخه توپونه او باروت وغوښتل، هغه هم مرسته ونشوه کولای. دا ځکه چې کابل په خپله له انګرېزانو سره په يوه مبارزه کې ښکېل و، تر څو چې د ۱۸۴۲ کال په جنوري کې سردار شمس الدين خان له کابل څخه د غزني مرستې ته ورغی او کلنل پالمر خپلې خزانې او جبه خانې سره د مارچ په شپږمه له ښار څخه ووت او کابل ته راغی، خو د غزني تنګيالي په لاره کې ورسره ونښتل او ماتې سره يې مخامخ کړل د بر يې ورځخه بنديان کړل.

نوای معارك تاريخ په دې هکله ليکي:

Scanned by CamScanner

د انګرېزانو ددغه پوځ څو تنه ژوندي ونیول شول او را یې وستل. چې د مزدورۍ کار ورباندې وکړي. په دوی کې رساله دار او جمعدار خور د ضابطان) دومره مغرور و، چې له کبره یې چا سره خبرې نه کولې او چاته یې خواب هم نه وایه. خو غازیانو په دوی باندې د آسونو د ډېران پاك او غوجلې یې ورباندې جارو کړې.

په دې توګه په غزني کې د انګلیس دوه پلي او څلور سپاره ټولي له خپله ټولو وسایلو سره یو ځای له منځه ولاړل، یو څو افسران یې بېرته غزني ته وتښتېدل او تسلیم شول او هلته ژوندي پاتې شول.

د ۱۸۴۱ کال په دسمبر کې ګردیز ته نږدې د زاوي خلکو پاڅون وکړ او د زاوې د لویې کلا شپږو برجونو ځنه یې مورچلونه جوړ کړل. مکناټن په بېړه زاوې ته د اولیور، ابوتس، آربورټن او اندرسن تر قوماندې لاندې درې پلي کنډکونه او د نهه پونډه توپونو یوه رساله ور واستوله او یو کنډك مورچل جوړوونکي او سرنګ الوځوونکي یې هم ورسره کړل. دغو لښکرو باندې د ډېر ژر د کلا له شپږ واړو برجونو څخه برید وشو او جګړه د اکتوبر تر نیمایي پورې روانه وه، تر څو چې دښمن ته کوم برى ورپه برخه نه شو. په پای کې انګرېزانو فیصله وکړه، چې په زاوه کې د خلکو مقاومت داسې مثال لري لکه د مچیو ځالې ته لاس ور وړل، نو ځکه له کابل څخه امر ورته وشو، چې بېرته ستانه شي. دغه پوځ د اکتوبر په ۱۷مه نېټه له ځلو ماتو ګوډو او ځپل شویو ځواکونو او توپونو سره بېرته ستون شو او کابل ته ورسېد.

د همدغه کال په اکتوبر کې د کوهستان او غلجیو د خلکو پاڅون له کوهستان او تیزین څخه نیولې تر بتخاك پورې ټوله سیمه د انګرېزانو تر پښو لاندې سور اور کړه او له جلال آباد سره یې اړیکې پرې شوې. ددغه پاڅون په سر کې میر مسجدي خان و. د غلجیو مخکنیو ننګیالیو د خورد کابل مهم غاښې نیولې وو. د اکتوبر په نهمه د لفټننټ دنی په مشرۍ یو انګرېزي کنډك له کابل څخه د بتخاك خوا ته ورغی. د اکتوبر په دولسمه نور کنډکونه د جنرال سیل تر قومندې لاندې له توپچي ځواك سره ورغلل، جنرال ته دا دنده هم سپارل شوې وه، چې د خپلې لارې په ترڅ کې به د نجراو خلك د نجراو د مبارزینو په ضد لمسوي او د دوی تر منځ به خپل منځی جګړه پیل کوي. په دغه پوځ باندې په خورد کابل کې ۲۰ تنو مبارزینو برید وکړ او ۴۸ تنه یې ورڅخه ووژل او ۱۹ یې ورته ټپیان کړل. په دغو ټپیانو کې جنرال سیل کپتان ینګ هیزبند او لفټننټ او کس هم و.

د کابل انګرېزان دومره ویریدلي وو، چې د اکتوبر په ۱۳مه یې یوه بله ډله له دوو توپونو سره د بتخاك د کنډکونو مرستې ته ولېږل. د اکتوبر په ۱۸مه ۴۰۰ تنه ملي مبارزینو د خورد کابل په انګرېزي لښکر کوټ برید وکړ او مرګوني ګوزارونه یې ورباندې وکړل. د اکتوبر په ۱۹مه د شاه شجاع افغاني ملازمینو، چې د کپتان تریور ساتنه یې په غاړه وه د انګلیسانو نظامي چارو لېږدولو ۱۹۰ اوښان ټپیان او غاړې یې ور پرې کړې او خپله وتښتېدل. د اکتوبر په ۲۴مه په تیزین کې د مبارزینو بریدونه پیل شول. د انګرېزانو یو شمېر مړي او ټپیان د جګړې په ډګر کې پاتې او خپله وتښتېدل د دوی د دیارلسم لمبر د کنډك ۱۹۰ د اوښ بارونه خزانه او جبه خانه د مجاهدینو لاس ته ورغله. جنرال سیل د افغانانو د چریکې (داړې اچولو) له دغې طریقې څخه په غوسه شول نو هوډ یې وکړ، چې افغانانو سره روغه-جوړه

Scanned by CamScanner

وکړي. د همدې موخې لپاره د انګرېز سیاسي استازی مکریګر د مبارزینو قرارګاه ته ورغی او خان سره
یې یواځې یو تن بوت. د مجاهدینو استازي ۷۰۰ تنه وو، چې د لغماني تګاو، غلجیو او کوهستان د
ننګیالو په استازیتوب یې خبرې کولې. دوی د مکریګر هغه وړاندیزونه، چې د پیسو د ورکولو په هکله
وو واورېدل. خو هو یا نه یې ورته ونه ویل او ځواب یې بلې ورځې ته پرېښود. افغانانو د وخت په تیرولو
سره دښمن غافل کړ او خپلو چریکي بریدونو ته یې دوام ورکړ. انګرېزان په پرله پسې توګه د خورد
کابل، تیزین او سه بابا په سیمو کې تر بریدونو لاندې راتلل او خپل سړي، وسلې او وسایل یې له لاسه
ورکول. جنرال سیل لس زره کالدارې نغدې ومنلې ور یې کړې او ځلوېښت زره یې نورې ژمنه وکړه، چې
بیا به یې ورکړي. نو په دې توګه له یرغلونو څخه وژغورل شو او په ډېرو ستونزو به په ډولیو کې تلل.
راتلل. له دې څخه وروسته د انګرېزانو ډاک د کابل او پېښور تر منځ ډېر لږ او په پټو لار واستول. را
استول کېده. او په پای کې بېخي بند شو.

یو ځل د اکتوبر په درېیمه شپه د سیاه سنګ د چونۍ په خوا کې په کابل کې په انګرېزانو یو د شپې
برید وشو. انګرېزي افسرانو لکه مسترمین، ډاکتر متکاف او نور په ویره هره خوا وتښتېدل. په داسې
حال کې چې د جګدلك او سرخاو تر منځ انګلیسي ځواکونه د مبارزینو د یوې ۴۰۰ کسیزې ډلې له خوا
تر برید لاندې راغلي وو. دوی په دغه برید کې ۹۰ تنه عسکر او افسران او یا اوښان له لاسه ورکړل. په
دې توګه د ۱۸۴۱ کال په بېلا بېلو میاشتو کې انګرېزانو د افغانستان بېلا بېلو سیمو لکه زمینداور،
کلات، غزني، ګرشك، کندهار، فوشنج، کوه دامن، کوهستان؛ زرمت، خورد کابل تیزین او خیبر کې د
افغاني ولسي لښکرو له لاسه کلك کلك ګوزارونه وخوړل. دغه ګوزارونه د یوه انقلاب د پیل نښې وې،
چې لومړنۍ سپرغۍ یې د ۱۸۴۱ کال په نوامبر کې په پلازمېنه کابل کې ولګېده.

## د ۱۲۵۷ کال د روژې ۱۷مه (د ۱۸۴۱ د نوامبر دوهمه)

د افغانستان او هندوستان په تاریخونو کې د نوامبر دوهمه یوه مهمه ورځ ده. دا هغه ورځ ده، چې یوې
لویې اروپایي امپراتورۍ د یوه آسیایي هېواد له خلکو څخه ماتې وخوړه. د دغې ورځې یوه ځانګړتیا په
افغانستان کې د بهرنیانو د تیرې په وړاندې د ملي وحدت د روحیې تبارز او اثباتول و. د ولسونو
صفونه پرته له کوم ژبني، قومي، سمتي او مذهبي امتیاز څخه یو بل سره متحد شول. البته د زړګونو
ملي مبارزینو (د تاریخ د نومورکو اتلانو) له ډلې څخه یواځې د څو تنو نومونه د هېواد په تاریخ کې د
انقلاب د لارښوونکو په توګه پاتې دي، خو بیا هم د همدغو څو کوتو په شمېر نومونو څخه د
افغانستان د اتل ملت اصلي روحیه پېژندل کېدای شي. د بېلګې په توګه په کابل کې لاندنیو نامتو
څېرو د انقلاب د څرخ په ګرځولو کې ځان ځار کړ:
امین الله خان (نایب لوګرى)، سکندر خان بامیزایي، امان وردي ازبك، ملا احمد برنج فروش، اکبر
خوابګاهی، آغا حسین قزلباش، احمدمیراخور، حاجي بختیار، میرزا بهاالدین خان، د خواجه میر کوه
دامن زوی، د میرداد هوتکي زوی، حاجي علي کابلی کاکه حسین، خضر خان کوتوال، د بخش خان

Scanned by CamScanner

زوی، خان ګل خان تره خیلی، خان محمد خان، خان شیرین خان جوان شیر، دوست محمد خان غلجایي، دلاور خان شاغاسي، درویش خان، سیدال خان الکوزایي، سلطان خان نجراوي شمس الدین خان (سردار) شجاع الدوله (سردار)، صوفي خان بایاني. صمد خان، عبدالرحمن، عثمانلو، عبدالغفور خان، عبدالرحیم خان محتسب، عبدالرسول خان. عبدالعزیز خان سلیمانخېل. عبدالغیاث خان (سردار) عبدالحکیم خان (سردار)، عبدالسلام خان پوپلزایي. عبدالخالق خان، علي محمد خان ناظر. غلام محی الدین خان، غلام محمد خان، غلام احمد خان، ګل محمد خان، میرمحبوب کابلی، میر جنید کابلی، میرزا امین خان، میر آفتاب عاشقان عارفاني، میر معصوم (چې په میر حاجي پېژندل کېدو او د کابل د نامتو روحاني شخص میرواعظ زوی و). میر درویش بن میرواعظ. میرسید، میرغلام قادر، میرمسجدي خان کوهستاني، میرافضل خان. میراسلم. محمدعطا. محمدنصیر. محمدخان، میراحمد محمدزمانخان (نواب) محمدعثمانخان (سردار) محمداکبر خان (شهزاده) محمدشاه خان غلجایي ملا مومن غلجایي په محمدایاز، محمدناصر محمد حسن عرض بیګي. محمودخان بیات، محمدهاشم کاه فروش، ولي محمد میراخور او نور محمدخان.

همدا رنګه په کندهار کې سرښندونکي مبارزین او د کلات، غزني، پکتیا او ننګرهار نامتو مجاهدین او لارښوونکي دا وو:

میرزا احمد کندهاری، اخترخان علیزایي، تاج محمد الکوزایي. قلندر کاکړی. محمد صادق کندهاری. علیخان زمینداوري، عطامحمد خان کندهاري. محمداکرم خان کندهاري او د هغه میرمن، صمدخان غلجایي، ګل محمد غلجایي، میرعلم خان غلجي، عبدالرحمن غلجي، سلطان محمدخان غلجایي ملك محمدخان غزنوي، سلطان خان غزنوي، تاج محمدجان غزنوي، مهتر موسی خان غلجایي، سیدهاشم کونړی، سعادت خان لالپوری، عزیزخان غلجایي، محمدعلم خان اورکزایي، محمدشریف خان غلجایي او نواز خان غلجایي.

دوی، چې د افغانستان د خلکو رښتیني استازي وو، نو په هره سیمه کې یې د بهرنیو ځواکونو په وړاندې د ملي مبارزینو مشرتوب تر غاړې و، خو دوی د کومې واحدې او متمرکزې سیاسي او نظامي ادارې لاندې نه وو، بلکې له یوه متمرکز او قوي دښمن سره یې په خپلو خپلو سیمو کې په تیت او پاشانه بڼه مبارزه کوله. په پیل کې د ملي مبارزینو همدا پاشان والي ددې لامل شو، چې د دښمن واك براخه او وخت زیات ونیسي، خو ډېر ژر خلك په دغه نیمګړتیا باندې وپوهېدل او د دوی استازي په کابل کې په دې لټه کې شول، چې اداري ته یو مرکزیت پیدا او ملي قوتونه متحد کړي. نایب امین الله خان لوګري د جهاد له نورو لارښوونکو سره د ۱۸۴۱ کال د نوامبر په لومړۍ نېټه د عاشقان او عارفان خوا کې (د باغ نواب اوسنۍ کوڅه کې) له عبدالله اڅکزي سره غونډه جوړه کړه او د یوه عمومي انقلاب نقشه یې جوړه کړه. تر دې مهال پورې تیت او پرك مبارزینو یوه برخه کار پر مخ وړی و او ددې ډول غونډې لپاره لاره هواره شوې وه. د بېلګې په توګه دوی د شاه شجاع په جعلي لاسلیك په افغانستان کې یو شمېر خپرونې خورې کړې وې او د پاچا (اولی الامر) په نوم یې ملت عمومي قیام ته بللی و او د دښمنانو د

شرلو اعلان يې کړی و.

همدا رنګه دوی یو بې لاسلیکه لیك مکناټن ته استولی و او پکې لیکلي يې وو:

"که ته مو بیا پر آس سپور په تفرج کې ولیدې، مونږ قسم کړی تا به وژنو."

دغه لیك انګرېزانو سرکرده ګان په وېره کې واچول. سره له دې، چې لیدې سیل لیکلي، چې مکناټن ورته دار شو. همدا رنګه دغو مبارزینو د هغو مخورو او قومي مشرانو د پوهولو لپاره چې لا اوس هم له حاکمه دستګاه سره تړلي وو، خیني شپې پاڼې ولیکلې او په نیمه شپه کې يې د هغوی پر دروازو ټومبلې. په هغو کې يې ورته ولیکل:

ټول مخور به ډېر ژر د انګلیس په حکم او د پاچا په فرمان هندوستان ته تبعید شي او له خپل ملك، مال او عیال څخه به بې برخې شي. له بلې خوا دوی پاچا ته هم لیکلی اخطار ورکړ، چې: که چېرې پاچا د دین او وطن دښمن ونه شړي او خپل ملت سره یو ځای نه شي، مونږ ژمنه کړې ده، چې هغه به ژوندی نه پرېږدو.

د ۱۸۴۱م. کال د نوامبر د لومړۍ نېټې په غونډه کې د انقلاب لارښوونکو د دښمن د شړلو نقشه جوړه او تصویب کړه. په همدغه شپه د لویو لارښوونکو دنده وټاکل شوه او د برید سیمې هر چا ته وښودل شوې. مجلس د یو تن په لاس کې د چارو د تمرکز لپاره سردار محمد زمان خان د امیر دوست محمد خان وراره د (نواب) په نوم سره د مشر په توګه وټاکه او امین الله خان لوګری يې د هغه د مرستیال په توګه د (نایب) په نوم غوره کړ. نایب د لوګر له خلکو څخه لس زره تنه مجاهد عسکر تر خپل امر لاندې لرل. کله چې له دښمن سره جګړه پیل شوه او نظامي دندې ډېرې شوې، نو د لارښوونکو راټولېدل او غونډې هره شپه ناممکن کار و، نو ځکه د جګړې او سولې د اداري لپاره یوه دولس کسیزه شورا جوړه شوه، چې مرکز يې د شوربازار په یوه کوڅه کې و. دغې تاریخي شورا وکولای شول، چې په زرګونه داوطلب مجاهدین تر خپل نظم لاندې راولي او د خوراك او باروتو رسول ډېر ښه تنظیم کړي. دوی به لرې ځایونو څخه د باروتو د جوړولو لپاره سکاره رارسول، له پنجشیر څخه د بالاحصار د جنګي برج د الوځولو لپاره د نقب د شکولو متخصص راوغوښتل شو، د حکومت او انګلیسانو وطني مستخدمین وګومارل شول، چې د دښمن خبرونه ملي مبارزینو ته ورسوي. د بالاحصار د انګلیسانو لیکنې او د چونۍ لیکنې، چې یو بل ته يې استولې ونیول شوې او دغه لیکونه هغو افغانانو ژباړل، چې پخوا يې انګرېزي ژبه په هندوستان کې زده کړې وه له ولایتونو سره اړیکې او د ډاك لېږل د خبر رسوونکو په لاس ترسره شول. د حکومت او انګرېزانو وطني مامورین دې ته اړ ایستل شول، چې شاه شجاع او انګرېزانو ته خبرونه په داسې بڼه ورسوي، چې د مجاهدینو په ګټه وي. د جهاد د پیل کولو لپاره د روحانیونو په واسطه په کلیو کې تبلیغ کول پیل شول. همدا رنګه یو شمېر داو طلب مجاهدین په پلیو او سپرو قطعاتو کې تنظیم شول او د ټاکلو قوماندانانو تر امر لاندې وګومارل شول. د هرې ورځې او شپې جګړه هر قوماندان ته تقسم شوه. دغلې او بوسو هره لاره د انګلیس په اردو باندې وتړل شوه په دې توګه انګرېزان وارخطا شول او له خپلې ټولې هوښیارۍ سره سره لکه د مرغۍ په شان په لومه کې ولویدل. د

Scanned by CamScanner

کابل د خلکو ولولې تر دې برید پورې رسېدلې وې، چې د کابل ښځو به دوړې، په تبۍ او تنور پخولې او په خپلو سرونو به یې کېښودلې او ملي اردو ته به یې رسولې. یو نایي او یو پښ له خپلو هټیو ځخه پاڅېدل او د شوربازار حمام ته نږدې د بالاحصار په لویدیځ کې یې مورچې جوړې او د خپلو ټوپکو ډېلۍ یې د حمام له کړکیو ځخه بهر د بالاحصار د ښار د تخته پل دروازې ته په نښه کړې. هېڅ انګرېز له دغې دروازې ژوندی ونه وت. تر څو چې د انګرېزانو توپچي د بالاحصار له پاسه حمام ولید. خو هغوی له حمام ځخه ورهاخوا هغه دوه خولۍ په نخښه کړې. چې دغه نایي او پښ د دوو لرګیو پر سر ښکې کړې وې او دښمن ته یې ورباندې دوکه ورکوله.

کله چې د انقلابي شورا غړو احساس وکړ. چې د مجلس ښي لاس لکه نواب محمدزمان خان (رئیس) او سردار محمدعثمان خان او خان شیرین خان جوانشیر (د مجلس غړي) یو څه معتدل دي او د انګرېزانو په وړاندې نرم چلند غواړي. نو تر ډېره بریده یې په نایب امین الله خان او عبدالله خان او نورو باندې ډډه ولګوله په هر حال، د نوامبر د لومړۍ نېټې غونډې فیصله وکړه، چې سر له سبا یعنې د نومبر له دوهمې نېټې (د ۱۲۵۷ق. کال د د روژې له ۱۷ مې) ځخه وروسته به د دښمن په وړاندې یو عمومي پاڅون پیل کېږي، نو په هماغه سباوون کې میر حاجي په پل خشتي کې او نورو ملایانو په نورو جوماتونو کې د جهاد اعلان وکړ. په ټول کابل کې هتې وتړل شوې او له شپږو توپونو سره پلي او سپاره روان شول. انګرېزانو هېڅ فکر نه کاوه، چې د دوی تر څارنې او سترګو لاندې به د کابل په ښار کې دا ډول څواك پټ وي.

د مبارزینو سیلاو لومړی د خرابات اوسنۍ کوڅې کې د الکساندر برنس د اوسېدلو په ځای ورغی، د انګلیس ساتونکو سرتېرو ډزې پیل کړې، هغه لومړني، چې د ګولیو په باران کې د برنس سرای ته ورننوت یو بوس خرڅوونکی کابلی و، چې د هاشم کاه فروش په نوم یادېده او هغه لومړني کسان، چې د برنس ودانۍ ته وختل کوتوال خضرخان او ناظر محمدعلي و. نامو سکندرخان، نایب امین الله خان او عبدالله خان اڅکزی د ملي سرتېرو د پوځ په اول صف کې وو، برنس چې خضر خان او علي محمد ولیدل، په دسمال یې خپلې سترګې وتړلې او لږ شیبه وروسته یې سر د کابل په چوك کې ځړول شوی و. دغه ورور چارلز هم ووژل شو او برادفورت ټپي شو. جاسوس موهن لال د دیوال له سوري ځخه وتښتید، چې بهر بیا ونیول او په اعدام محکوم شو. خو له ویرې یې د اسلام کلمه وویله او نواب محمد زمان خان هغه خان شیرین خان ته وسپاره. کابل ښار کې د انګرېزانو کورونو ته اور واچول شو او مکناټن د تورو لوړخړو په ترورمۍ کې په منډه له ښار ځخه د بي بي مهرو چونۍ ته وتښتید. له بالاحصار ځخه په ډېره بیړه یو انګلیسي کنډك د جنرال کیمپل تر قوماندې لاندې (چې دغه جنرال ته انګرېزانو د پاچا مټ نوم ورکړی و) سوق شو. کله، چې دغه کنډك له کوڅو ځخه تیرېده د کابل ښځو له بامونو ځخه خښتې او ډبرې او جوش اوبه وربانډې ویشتلې او سنجي دیوالونه یې وربانډې ونړول، کله چې دغه سپېره سرتیري له مبارزینو سره مخامخ شول، نو د جګړې ډېرې کوچنی اور غورځوونکي وسلې له کاره پاتې شوې او مجاهدینو په تورو ګوزارونه پیل کړل. په دغه لاس- ګریوان جګړه کې په لږ شیبه کې اووه سوه انګرېزي سرتیري ووژل شول. جنرال کیمپل بندي شو او ژر ژر یې د اسلام کلمه پرله پسې

ويله او مجاهدينو هغه معاف کړ.
شاه شجاع خپل زوی تیمور د خلکو د غلي کولو لپاره له بالاحصار څخه ښار ته واستاوه. خو کله چې هغه خلك وليدل. نو دستي يې نارې کړې او دوی يې د دښمن خپلو او ټکولو ته وبلل او په دې توګه وژغورل شو. انګريزانو د بالاحصار له لوړو څخه د کابل پر ښار د توپونو ډزې پيل کړې. دا مهال د کوهستان او کوه دامن ټوپك لرونکي مجاهدين مرستې ته را ورسېدل او د انګريزانو خزانه او يو ټولې يې ورته له منځه يوړې. کله چې د انقلاب لمبې پورته شوې. د شاه شجاع ټولو افغاني عمله او فعله ور بالاحصار پرېښود. د کابل ښاريانو سره يو خای شول. ورپسې ٧٥٠ ښځو په بالاحصار کې خپل کورونه پرېښودل او کابل ښار ته راکوزې شوې. د انګريزانو داخلي ملازمينو هم خپلې دندې پرېښودې. نور چې په دنده کې پاتې شول هغوی په ملي اردو کې خپلو دندو ته دوام ورکړ. کومو کسانو، چې لا هم دنده ونه وه پرېښې هغوی د دښمن په ضد فعاليت پيل کړ. د ببلګې په توګه هغوی. چې د شپې له خوا د چونۍ دننه د مکناټن د کور څارنه کوله هغوی ملي اردو ته مخ واړاوه او آن دا. چې د کپتان جانسن منشي يو شپه په داسې حال کې ونيول شو. چې له دوو ناآشنا کسانو سره لګيا و او نظامي مورچې يې ښوولې. د جنرال الفنستن استازی استوارت، چې له چونۍ څخه بالاحصاار ته غوښل يو پيغام ورسوي د بالاحصار دننه د يوه ځوان تر کرچ لاندې درې ځايه ټپي شو او لارنس، چې پر آس سپور و د يوه بل ځوان تر بريد لاندې راغی. خو ژوندی وتښتيد. بريګيډ ييرشلټن. چې د سياسنګ په چونۍ کې له يو شمير سپاهيانو سره مېشت و. يوه برخه يې بالاحصار ته او نور پاتې يې د بي بي مهرو چونۍ ته وتښتيدل. کله چې په خورد کابل کې د انګريزانو کنډکونه د کابل ښار له انقلاب څخه خبر شول. هغوی هم بې له ځنډه د بي بي مهرو چونۍ ته پناه ور وړه. د جنګي کلا ټولې دروازې وتړل شوې او د انګريزانو زيرمې تر کلکې څارنې لاندې راغلې او ټول برجونه او بارونه کلك شول. د بي بي مهرو ټولې لويې چونۍ د يارلسو نهه پونډه توپونو او پېنځه انچه کليبر او ١٢-١٨ پونډه هاوتزرونو په واسطه دفاعي وضعيت غوره کړ. د بالاحصار انګريزانو ډېر ژر د پاچا په نوم يو اعلان خپور کړ او ويې ويل که تر سبا پورې پاځون پای ونه مومي، نو ټول ښار به د اور غورځوونکو بمونو په واسطه وسوځول شي، خلکو د بالاحصار د دغه اعلان په وړاندې بالاحصار د خپلو توپونو تر اور لاندې ونيو او د انګريزانو بل مرسته کوونکی پوځ يې د شوربازار په خوله کې له منځه يووړ او د هغوی توپونه يې ورڅخه ونيول. د شپې له خوا د مجاهدينو بريدونو هم د بالاحصار او هم د قلعه جنګي[١] په خوا دوام وموند. انګريزانو د بي بي مهرو د چونۍ له پاسه څو توپونه ودرول او له دغې شپې وروسته به برتانوي افسران ټوله شپه ويښ و. د نوامبر په دريمه ملي پوځونه جنګي کلا، د هغې د آذوقې زيرمې او جبه خانې ته پام واړاوه. د چهارباغ او نشان خان کلا د ننګياليو په يوه بريد سره وپرځېدې او محافظ نظاميان ټول ووژل شول. خو انګريزي افسرانو لا مخکې له خپلو ښځو او بچيانو سره، ځانونه عمومي لويې چونۍ ته رسولي وو. د مجاهدينو

[١]- قلعه جنګي (جنګي کلا) د شيرپور ختيځ ته نظامي وداني وې. چې تر دا څو کاله مخکې هم په دې نوم يادېدې. دغه سيمه اوسني د سرحدونو د وزارت مخامخ وه. چې اوس يې نښې نه دي پاتې د بي بي مهرو غونډۍ ته څېرمه (ژ).

Scanned by CamScanner

پر، بله چې شین توغ یې اوچت کړی و. د بالاحصار د شاه دروازې باندې یرغل ور وړ. د بالاحصار درنو توپونو په دوی ګوزارونه کول او دوی یې تر اور لاندې نیولي وو. په دغه ورځ کوهدامني، کوهستاني، غلجي، لوګرې، میداني، وردکي او نور ټول مجاهدین په کابل کې وو او په انګرېزانو یې ناتار ګډی کړ. د نوامبر په څلورمه د محمود د کلا مجاهدینو د انګرېزانو سیلو تر برید لاندې ونیوله، چې په هغې کې زر خرواره وربشې او د څلور سوه زرو کالدارو په بیه زیرمې اچول شوې وې او تر نیمې شپې یې هغه ونیوله او مرستندوی کنډکونه یې هم په لاره کې وځپل شول. له لاهوري دروازې، شریف خان کلا او بادشاه کلا څخه هم د انګرېزانو بریدونه شنډ شول. د همدغو جګړو په ترځ کې کپتان میګزي، چې له مجاهدینو څخه تښتید. د لارې په ترځ کې یوې ښځې سره مخامخ شو. چې ماشوم یې ورسره و. هغې چې انګرېز افسر ولید، ماشوم یې له غېږې څخه کوز کړ او په انګرېز یې لاره بنده کړه. میکنزي خپله توره راکښله، چې په ښځې ګوزار وکړي، خو د مجاهدینو ګولۍ پرې ولګېده او کپتان پر ځمکه ټپي پرېوت. د نوامبر تر اومې نېټې پورې د دښمن ځواکونو یواځې د بالاحصار دننه او د بي بي مهرو د چونۍ دننه کلابند پاتې شول. دا ځکه چې جعفرخان کلا او د کابل نورې کلاوې پرته د ریکاباشي او ذوالفقار له کلاوو څخه نورې ټولې یې د ملي پوځ لاس ته ورغلې. دا مهال، چې بله چاره نه وه د انګرېزانو سپه سالار د کابل د پرېښودلو او له کابل څخه مخ په جلال آباد د تللو وړاندیز وکړ. خو مکناټن ونه منله. افسرانو داسې نظر وکړ، چې د ژمي تر پای پورې به چونۍ پرېښودل شي او ټول انګرېزان به بالاحصار ته ولاړ شي. په پسرلي کې به نوی مرستندوی پوځ له هندوستان څخه راورسېږي، نو یو شمېر نورو وویل، چې انګرېزي پوځونه تر درې سوه ګامه نږدې هم په امن کې نه دي، نو څرنګه به له چونۍ څخه تر بالاحصار پورې، چې اووه سوه تنه ټپیان هم ورسره دي ورسېږي. په تېره بیا ملي مرتېرو پل هم بند کړی او د چونۍ او د بالاحصار اړیکه پرې ده. مکناټن له هند، غزني کندهار او جلال آباد څخه د مرستې غوښتنه کړې وه. د انتظار په حالت کې و او تر ډېره یې له چال او دوکې څخه کار اخیست، نو د سیده خبرو-اترو پر ځای یاد روښانه نظامي اقداماتو پر ځای یې پټ او جاسوسي کارونه کړل او په افغانستان کې یې دننه نفاق او شقاق اچاوه. د بېلګې په توګه جان کنولي د انقلاب په دوهمه ورځ (د نوامبر په درېیمه) له بالاحصار څخه بندي موهن لال ته په پټه ولیکل، چې: "له خان شیرین خان جوان شیر او نایب محمد شریف خان سره خبرې وکړه، چې د شورشیانو په ضد له مونږ سره مرستندوی شي او خان شیرین خان ته د سل زرو روپیو د ورکولو ژمنه وکړه. په دې شرط، چې پاڅون کوونکي ووژني او بندیان یې کړي. هغوی ته باید ووایې، چې که چېرې سنیانو(!) قدرت ترلاسه کړ ستاسې کورونه به لوټ کړي، سردارانو ته ووایه، چې خبرو-اترو ته خپل د باور وړ استازي راولېږي، هڅه وکړه چې د پاڅون کوونکو تر منځ نفاق پیدا او پراخ شي(!) زه د هر پاڅون کوونکي مشر د سر په وړاندې لس زره روپۍ انعام ورکوم."

کله، چې خان شیرین جوان شیر د کنولي دغه خاینانه وړاندیز ونه مانه، کنولي یو ځل بیا د نوامبر په اووهمه موهن لال ته داسې ولیکل: "که خان شیرین خان زمونږ خدمت کولو ته نه وي حاضر، نورو

سردارانو سره خبرې وکړه. حاجي علي ته ووایه، چې د هر سر (د پاڅون د رهبرانو د سر) په وړاندې له لسو زرو څخه نیولې تر پنځلس زرو روپیو پورې انعام درکوم مکناټن یواځې د کنولي فعالیت بسنده ونه باله، په خپله یې د دسمبر په شلمه موهن لال ته ولیکل: "ته غلجیو او خان شیرین خان ته ووایه، چې که دوی زمونږ او د پاچا پلوي وکړه او مونږ ته سل خرواره غله راولېږي. مونږ به ډېره په خوشحالي د نیم میلیون روپیو سند ورته ورکړو."

البته غلجیو او خان شیرین خان او نورو با همته خلکو د انګرېزانو له ډېر انتظام سره سره دغه وړاندیز ونه مانه. آن دا، چې بېوزلو غلجیو وویل چې: "مونږ ژمنه کړې، چې تاسې به له افغانستان څخه باسو، نو تاسې سره خبرو ته هم نه کینو."

دا ځل انګرېزان پوهېدل، چې د انګلیسي د متل سرچپه ټول انسانان هغه خنزیران نه دي، چې سره زر یې خوراك وي، خو یو شمېر چې اصلاً انسانان نه دي، هغوی سره زر خوړونکي خنزیران دي. انګرېزانو د خپلو ټولو چلونو او دوکو په پای کې د زرګونو افغانانو له منځ څخه یواځې یو څو تنه ومونډل، چې د پیسو او رشوت په وړاندې هغوی د ملي لاربښوونکو په وړاندې استعمال کړي، لکه عبدالعزیز. چې د بي بي مهرو په جګړه کې یې عبدالله خان اڅکزی د ننګیالیو مجاهدینو له منځ څخه په شا باندې وویشت یا محمدالله خاین، چې میر مسجدي ته یې د ناروغۍ په بستر کې زهر ورکړل یا کاکړی پاینده، چې وزیراکبرخان یې په جلال آباد کې وویشت او یا سعید محمدخان پغماني، چې په جانفشان خان مشهور شوی و، یا د مختارالدوله لمسی تاج محمد خان بامیزایي یا نایب محمدشریف خان. چې د شاه شجاع او انګرېزانو ملاتړ یې وکړ. د همدغه ډول څو تخریبي او جاسوسي فعالیتونو په لیدلو سره میرمن سیل ولیکل: "... استوارت وویل، چې له افغانستان څخه د انګرېزانو پوځونو له وتلو وروسته به بې له شکه په دغه هېواد کې ډېرې وینې توېې شي." البته د انګرېزانو د دوکې او نفاق اچولو طریقې په افغانستان کې د مېړنۍ جګړې ډګر د غلا او ترور په ډګر بدلولای شوه خو سره له دې هم انګرېزي ځواکونه داسې شوي و لکه لیوه چې په قفس کې بندي شوی وي او د غزني، کندهار، هند او جلال آباد له مرستې ناهیلي شو، نور نو انګرېزي ځواکونه په غزني کې کلابند او په چاریکارو کې ببخي له منځه تللي وو او له کندهار او پېښور څخه را روان کنډکو ته په لاره کې. د کلات او خیر په سیمو کې تباه شوي له جلال آباد څخه را روان مرستندوی پوځ د کابل - جلال آباد په لاره کې غلجیو او د بختیارخان مجاهدینو وهلی و، نو ځکه د کابل انګرېزانو د ځان د خلاصون په خاطر د بي بي مهرو د کلا د نیولو او د انګرېزانو د غلې د زیرمې د بېرته ترلاسه کولو په خاطر یو یرغل پیل وکړ. دغه کلا یواځې پنځوس تنو افغاني ساتونکو ساتله، خو بیا هم انګرېزانو ونشو کولای، چې هغه ونیسي. میر مسجدي خان له خپلو زرو تنو سره راورسېده او د بي بي مهرو سیمه یې له شپږ زره منه اوړو سره یو ځای له انګلیسانو څخه ونیوله. انګرېزانو له بالاحصار څخه بریګېډ برشلتن د مرستې په خاطر چونۍ ته راوغوښت (چونۍ شیرپور کې ده) او له دې سره یو ځای یې امر وکړ، چې په کابل ښار باندې د ۹ - ۱۸ پونډه توپونو اور بل کړي، تر څو ښار د باروت جوړولو له کارخانو سره یو ځای له منځه ولاړ شي. دغه د توپونو ګوزارونه به هره شپه له ۸

بجو تر ۱۱ بجو پورې روان و. د کابل په ښار کې د انګلیسي توپچي یو مهم هدف د نایب امین الله خان لوګري کور و، حال دا چې نایب لا مخکې خپل کور پرېښی و. خو د هغه آسونه یې ورته له منځه یوړل. د نوامبر په نهمه ملي پوځونو د بي بي مهرو د غونډۍ لاندې (دغه غونډۍ د انګرېزانو د حاکمه وه) برخو څخه د غونډۍ پاس برخې ته وختل. د انګرېزانو سپه سالار او مکناټن امر وکړ، چې عسکر دې دوی پسې ورشي او له غونډۍ څخه دې ملي مبارزین وشړي، خو عسکرو او افسرانو دغه قوماندو ته منله او ورانديز یې وکړ، چې پوځ دې د جلال آباد په لوري په شا تګ وکړي. د نوامبر په لسمه نېټه ملي پوځونه د سیاسنګ نقلیه هم ونیوله. انګرېزانو د چونۍ شاته درول شوي توپونه ټول چونۍ ته دننه ننویستل. ملي پوځونو له دې نېټې څخه وروسته د ټولو جنګي کلاوو امنیت په ټوپک لرونکو وسله والو ټینګ کړ. د دښمن پوځونو ته یو ځل بیا امر وشو، چې ملي مبارزینو باندې برید وکړي، خو ملي سرتېرو د دوی په وړاندې ځوابیه بریدونه وکړل او په دې توګه د دښمن پوځونه ماتې سره مخامخ شول او وتښتېدل، مستر سکات په داسې حال کې، چې ژړل یې د ټینګار قوماندو ورکوله خو چا غوږ ورته نه نیو.

د نوامبر په یوولسمه انګرېزانو ته له کندهار څخه خبر را ورسېد، چې کابل ته د دوی یو رالېږل شوی کنډک، چې هغوی سره ځینې سیاسي بندیان هم د غزني په سیمه کې د افغاني مجاهدینو تر برید لاندې راغلي او له منځه تللي دي، آن دا چې هغه یو انګرېزي کپتان، چې د ښځو جامې یې اغوستې وې هم د تېښتې پر مهال نیول شوی او د دوی مهم افسر (کلنل لفتننت کروفورت) هم مجاهدینو وژلی دی. په دې وخت کې نایب امین الله خان له سره توغ سره په محمود خان کلا کې مېشت و او د جګړې لارښوونه یې کوله. انګرېزي پوځونو د محمود خان کلا تر برید لاندې راوسته خو بریالي نه شول. د نوامبر په دولسمه انګرېزي ځواکونو یو ځل بیا هڅه وکړه، چې د بي بي مهرو کلي او غونډۍ ونیسي د دوی د توپونو او ټوپکو ډزو ټوله سیمه په لوګي کې ډوبه کړه. دا مهال میرمسجدي خان د کوهستان د مجاهدینو لارښوونه کوله ناروغ و او د ناروغۍ بستر کې پرېوتی و، خو بیا هم کوهستاني ساتونکو دغه کلا ساتله، چې لس زره مرستندوی ځواکونه له کابل څخه ور ورسېدل او د دښمن لویه چونۍ باندې یې برید وکړ، انګرېزان اړ شول، چې له چونۍ څخه ور ووځي، نو یوه تر ټولو سخته جګړه په همدې ورځ ونښته. د دښمن د توپچي فعالیت ډېر دروند و او د انګرېزي پلیو او سپرو کنډکونو په دریو کتارونو کې په مجاهدینو برید پیل کړ. دغه جګړه انګرېزانو ته د مرګ او ژوند جګړه وه، نو ځکه یې تر خپل وروستي وس پورې هڅې کولې. ملي ځواکونو د توپونو د لمبو مخې ته په دفاع لاس پورې کړ. عبدالله خان اڅکزي په دغه جګړه کې د ملي سپاهیانو په مخه کې روان و، همدا مهال د دښمن یو جاسوس د شا له لوري عبدالله خان په ښنبه کړ او په خاینانه توګه یې دغه ملي رهبر وویشت او د هغه وراره پیر دوست یې هم له منځه یووړ. دا مجاهدینو ته یوه لویه ضایعه وه، خو بیا هم ملي ځواکونو له جګړې څخه لاس نه اخیست او زړور پر مخ روان وو او مخامخ په چونۍ ورغلل. د دښمن سپور ځواک په تېښته پیل وکړ او پلي یې لکه د پاڼو په شان ورژېدل. د انګرېزانو توپچي له کاره ولوېد او د دوی ماتې پیل شوه، دښمن

يواځې د چوڼۍ د څلورو دېوالونو تر منځ راګير شوی و او دروازې يې وتړلې. ملي ځواکونو له عبدالله خان سره يو ځای کابل ته ستانه شول. ښاريان د داسې يوه ملي لاربنود په وير کې ډوب شول. په بله ورځ ټپي عبدالله د خلکو د ډاډمن کېدو او د هغو د زړور کېدو په خاطر په آس سپور شو او د کابل په بازارونو کې وګرځېد راوګرځېد. خو د هغه ټپ ډېر ژور و او د نوامبر په ۲۹مه (د ۱۲۵۷ق کابل د شوال په ۱۴مه) د همدې ټپ له لامله ومړ.

له همدغې جګړې څخه وروسته د انګرېزانو زړونه او لاسونه مات شول او دا هڅې يې پيل کړې، چې له ملي رهبرانو سره د روغې-جوړې لاره ولټوي او ځانته د خلاصون لار ومومي-انګرېزانو تر هر څه مخکې ملي مبارزينو ته وړانديز وکړ، چې په اول قدم کې دې دوی ته د نوامبر په ديارلسمه يوه ورځ وخت ورکړل شي، چې خپل مړي خښ کړي. افغانانو دغه وړانديز ومانه او د نوامبر په څوارلسمه دواړه لوري غلي پاتې شول. په همدغه ورځ مکناټن افغانانو ته وړانديز وکړ، چې د مبارزينو له مشرانو سره کتنه وکړي، په خپله ذوالفقار کلا ته نږدې په يو ځای کې افغاني مشرانو ته په تمه کښېناست، خو افغانانو دغه وړانديز رد کړ او ورنغلل. د نوامبر په پېنځلسمه مکناټن ته خبر ورسېد، چې په چاريکار کې انګرېزي او پنجابي ګورکه قطعات د انګليسي افسرانو په وړاندې پاڅېدلي دي، هغوی يې ځپلي او خپله افغانانو ته تسليم شوي دي. د نوامبر په ۱۷مه د جنرال سيل خبر راغی، چې د سعيد محمد جانفشان په مرسته له ګندمك څخه ژوندی جلال آباد ته رسول شوی دی، خو بيا بل خبر راغی، چې په جلال آباد کې پېنځه زره تنو کلابند کړي دي، شاه شجاع له بالاحصار څخه مکناټن ته وليکل، چې ملي ځواکونو سره بايد د روغې-جوړې خبرې-اترې وکړي، د نوامبر په ۱۸مه جمعدار محافظ (خورد ضابط) د بالاحصار لويديځ ته د کاسه برج (مهم موقعيت و) ملي مبارزينو ته ور پرېښی دی. افغاني سپاهيانو يو ځل بيا د انګرېزانو په چوڼۍ د برید تابيا وکړه. انګرېزانو دفاعي ترتيبات ونيول. د نوامبر په ۲۲مه په بي بي مهرو کې د دواړو خواوو تر منځ جګړه ونښته، په ملي سپاهيانو کلنل سيل بريدونه وکړل او ګڼ شمېر انګرېزان يې مړه او ټپيان شول، کلنل بېرته چوڼۍ ته وتښتيد. د نوامبر په ۲۳مه انګرېزان يو ځل بيا له ملي سپاهيانو سره، چې سره، ژېړ او شنه توغونه ورسره وو، مخامخ شول. بريګيډ يرشلتن له خپل پوځ سره په سختۍ سره ماتې وخوړه او توپچي يې هم له لاسه ورکړل، انګرېزان په تېښته شول، خو د مبارزينو تورو هغوی پر ځمکه غورځول. دا مهال سردار محمد عثمان خان پر آس سپور را مخې ته شو او ملي مبارزين يې د انګرېزانو له ځغلولو څخه راستانه کړل. په هغه سبا يې (د نوامبر په ۲۴مه) مکناټن ته وليکل، چې که چېرې ما د ملي سپاهيانو مخه نه وای نيولې اوس به د انګرېز يو تن هم ژوندی نه وای پاتې، نو تاسې بايد پرته له دليل څخه ډېر ژر افغانستان پرېږدئ او مونږ ته يو څه برمته راکړئ. ليډي سيل د دغې سترې ماتې په هکله داسې وليکل: افغانانو زمونږ په رمه لکه د لېوانو په شان راغلل زمونږ توپونه يې را څخه ونيول، دغه بريد مونږ ولړزولو. جنرال الفنستن له چوڼۍ څخه ووت او د تېښتې په حال کې پوځ ته يې بېرته نظم ورکړ او هغوی يې جګړې ته وبلل، خو ماتې خوړلي پوځ غوږ نه نيو، نو جنرال مکناټن ته ووېل: سفير صاحب تاسې وګورئ، چې زه

لښکر ته یو ډول امر کوم او دوی بل څه کوي.

همدا مهال انګرېزانو ته خبر را ورسېد، چې د غزني په سیمه کې کپتان وډبرن له یو ټولي انګرېزي سرتېرو سره ځپل شوي دي او له کندهار څخه راتلونکي مرستندوی ځواك هم په لاره کې له منځه تللی دی. نور نو د انګرېزانو په چونۍ او ټوله اردو کې د بېرته ستنېدو خبرې کېدې د انګرېزي افسرانو زړونه ډومره مات شوي وو، چې کله چې چونۍ ته یو څه غله-دانه را ورسېده. نو انګلیسي افسر اولیور لکه د ګونګ په شان سر وخوځاوه او ویې ویل: چې نور به څوك ژوندي پاتې نه شي، چې دغه غله وخوري. وروسته هغه په جګړه کې ووژل شو او سر یې خلکو ته وښودل شو. کله چې جنرال الفنستن په جګړه کې د افغانانو مهارت ولید، د نوامبر په ۲۴ یې مکناټن ته وړاندیز وکړ، چې باید په بیړه له افغانانو سره روغه-جوړه وشي. د نوامبر په ۲۵مه یې د نواب محمد زمان خان له استازي سلطان محمدخان سره خبرې-اترې پیل کړې، دغه استازي ورته وویل:

تاسې زمونږ جګړه ولیده او خپل ضعف هم درته ځرګند شو. نو باید انګرېزان کابل پرېږدي او د سیل لښکر هم باید له جلال آباد څخه هندوستان ته ولاړ شي او شاه شجاع باید له کورنۍ سره د افغانستان ملت ته ور وسپارل شي. مکناټن ونه منله. نو ځکه سلطان محمد خبرې-اترې ورسره پرېښودې. په همدې ورځ وزیر محمداکبرخان او سردار سلطان احمدخان کابل ته راغلل او د ملي سپاهیانو له خوا ورته د ټوپونو په ډزو سره هر کلی ووېل شو. دوی د بخارا په جیل کې بندیان وو. څه مودې وړاندې د یوه کابلي روحاني په منځګړیتوب د امیر نصرالله له خوا راخوشې شول او بلخ ته رارسېدلي وو. خلکو د انګرېزانو په ضد د سردار ملاتړ وکړ او شپږ کنډکه سپاره داوطلب، چې شمېر یې شپږ زره کېدل دده پر شا و خوا راټول شول. سردار له همدغه ځواك سره د خلم، بامیان، هزاره او غوربند په لارو کابل ته راورسېد او په لاره کې نور داو طلب هم ورسره یو ځای کېدل. میرمن سیل دا وخت د افغانستان د خلکو په اړه د خپل انګرېزي سوچ او قضاوت په رڼا کې داسې ولیکل:

"د بېلا بېلو قومونو په راټولېدو سره ټیټ طبقات (؟!!) زمونږ په وړاندې جګړې ته راټول شول" خو همدغو خلکو د لاردانو لښکرو ته ماتې ورکړه.

کله چې د نوامبر په ۲۶مه سردار محمداکبر خان راورسېده یوه ورځ وروسته میرمسجدي خان په زهرو ووژل شو او ددې وروسته بیا عبدالله خان اڅکزی وفات شو. خو د نوامبر په ۲۸مه د محمدشاه خان غلجي راتګ کابل ته دغه خلا ډکه کړه. دا مهال د داوطلبو سرتېرو راتګ له هر لوري څخه کابل ته لا زیات شو، آن دا چې داسې خلك هم راغلل. چې هېڅ ډول وسله ورسره نه وه، دوی خان سره اوږده اوږده کوتکونه راوړي وو، چې په څوکه باندې یې چړې تړلې وې، دوی د انګرېزانو د چونۍ په سر پورې د بې بې مهرو غونډۍ ته وختل او په ننداره شول او د دښمن کلابند شوي ځواکونه یې تر نظر لاندې ونیول. کله چې انګرېزانو په دوربینونو کې دغه ګڼ شمېر جنګیالي ولیدل، په خپل بر خلیك باندې وپوهېدل، نو ځکه په نظامي غونډه کې د انګرېزانو د اردو ارکان حرب فیصله وکړه او ویې ویل له دې ملت سره جګړه کول امکان نه لري. نو مکناټن ته یې وړاندیز وکړ، چې افغانانو سره د روغې-جوړې له لارې پر مخ ولاړ

Scanned by CamScanner

چې په جلال آباد کې انګرېزان تر کابل څخه هم زیاتې مرستې ته اړ دي. مکناټن اړ شو، چې د دسمبر په اوومه شاه شجاع ته ورشي او چوڼۍ ته هغه د راتګ لپاره راوبولي او دواړه یو ځای هندوستان ته ولاړ شي، خو شاه شجاع ونه منله، دا ځکه چې دري ورځې مخکې د ملي پاڅون کوونکو دوو تنو استازیو هغه سره مخامخ خبرې کړې وې او هغه ته یې ویلي وو. چې نور به له انګرېزانو سره اړیکې شلوي او ملي اردو سره به یو ځای کېږي او هغه اوس بېخي په شک کې لوېدلی و. د ملت استازیو هغه ته وړاندیز کړی و، چې ملي ستر رهبران حاضر دي، چې د پخوانیو ټولو دښمنیو د له منځه وړلو په خاطر د پاچا له لورګانو سره ودونه وکړي او هم یوه نجلۍ پاچا ته په نکاح کړي، نامتو مبارز سکندرخان د چوڼۍ په شمال کې د خواجه راوش په سیمه کې خپلو وسله والو سره مورچلې ټینګې کړې. همدې مهال سره یو ځای خبر را ورسېد، چې: د غزني خلکو شاه شجاع ته د پرنګي پاچا نوم ورکړی دی.

اوس مکناټن بېخي اړ شو، چې د ملي مبارزینو مشرانو سره خبرو ته کیني او د کابل له پرېښودلو سره یې موافقه وکړه او مبارزینو هم ومنله، چې دوی به روغ وځي. مکناټن د یوه تړون مسوده جوړه کړه او د مکریګر او لارنس په لاس یې د مبارزینو اردو ته واستوله. دغه تړون لاندې څلور ټکونه درلودل:

۱- انګرېزي ځواکونه له افغانستان څخه وځي.

۲- شاه شجاع له پاچاهۍ څخه غورځوي او لودیانه کې به مېشت کېږي او افغانستان به په کال کې دوه سوه زره روپۍ معاش ورکوي. دده پر ځای بېرته امیر دوست محمد خان افغانستان ته را استول کېږي.

۳- د افغانستان تر پرېښودلو پورې به یو افغاني سردار انګرېزانو سره د آذوقې د چمتو کولو په خاطر د نغدو پیسو په بدل کې پاتې کېږي.

۴- راتلونکې کې به انګرېزان بیا افغانستان ته نه راځي، مګر دا چې د افغانستان دوست هېواد ورڅخه هیله وکړي. ملي لاربښوونکو ددې په وړاندې یو د ۱۲ توکونو تړون مکناټن ته ور واستاوه، چې په هغه کې لاندیني ټکي راغلي وو:

دوه تنه افغانان به د انګرېز پوځ له کابل څخه تر جلال آباد پورې بدرګه کوي او د هغو ساتنه به کوي. د انګرېزانو موجود ټول پوځ به له کندهار، غزني او جلال آباد څخه هند ته ستنېږي، هغه درنې وسلې او نور سامان، چې انګرېزان یې نشي وړای هغه به افغانستان ته تسلیم شي.

د شاه شجاع کورنۍ به د امیر دوست محمد خان تر راتګ پورې دلته په کابل کې پاتې وي. امیر دوست محمد خان به له نورو افغانانو سره افغانستان ته را استول کېږي. د امیر دوست محمد خان تر راتګ پورې به شپږ تنه انګرېزان دلته برمته وي. انګرېزان به بیا هېڅکله افغانستان نه یادوي- هغه انګرېزان، چې نشي تلای هغوی به دلته ساتل کېږي. انګلیسي اردو به هند ته د تګ پر مهال له نهو څخه زیات توپونه له ځان سره نه وړي.

(کټ مټ دغه تړون، چې د ۱۲ تنو ملي لاربښوونکو په لاسلیک ښکلي شوي دي، ددغه کتاب په تېر څپرکي کې مخ کې لیکل شوي دي)

دسمبر په ۱۱مه مکناټن په یوه هوار میدان کې له ملي استازیو سره کتنه وکړه او د هغه تړون مسوده، چې افغانانو برابره کړې وه تسلیم او لاسلیک شوه. د دسمبر په ۱۳مه جنرال الفنستن افغانانو سره د روغې جوړې په هکله خپل وړاندیز مکناټن ته وړاندې کړ او ډېر تاکید یې ورباندې وکړ. دا ځکه چې موهن لال، چې بندي و په پټه یې دوی ته خبر ورکړی و، چې افغانان غواړي په انګرېزانو یو لوی برید وکړي. په تېره بیا دا، چې الفنستن هغه زرګونه جنګیالي لیدلي وو، چې د بي بي مهرو غونډۍ ته نوي راغلي وو. انګرېزانو د دسمبر په ۱۳مه خپله یوه اندازه زړه وسله او جبه خانه له دوو جنګي کلاوو (ریکا او ذوالفقار کلا) چې ورته پاتې وې افغانانو ته تسلیم او له افغانانو څخه یې ۱۵۰ هندي منه غله ترلاسه کړه او خپل پوځ ته یې نوې وسله ورکړه. دوی درې تنه انګرېزان (تریور، درامونډ او سکنر) افغانانو سره برمته پرېښودل، خو افغانانو درې تنه نور (شلتن، ګرانت او کنولي) هم غوښتل. وروسته بیا انګرېزان اړ وتل چې له تړون سره سم دا غوښتنه هم ومني، نو ځکه پاتنجر، ایز او وار برټن هم د برمته شویو په ډله کې پاتې شول. خو سره له دې هم انګرېزانو د کابل پرېښودل په بېلا بېلو بهانو سره ځنډول او هند ته یې د شاه شجاع د تللو د ځواب ځنډېدل بهانه کول او کله به یې شکایت کاوه، چې د بار وړلو څاروي او بوس نه لري. دوی دوه زره اوښان او څلور سوه سنډاګان نور غوښتل. افغانانو د لېږدلو لپاره اوښان ورته چمتو کړل او دښمن ته یې یو اوښ د ۱۵۰ کالداري په بیه ورکړ. د دسمبر په ۱۴مه ملي لارښوونکو اجازه ورکړه، چې بالاحصار کې د دښمن ۵۰۰۰ ایسار شوي سرتېري ژوندي د انګرېزانو چوڼۍ ته ولاړ شي. سردار سلطان احمد خان ته دنده وسپارل شوه، چې د یو شپې او ورځې په ترڅ کې دغه سرتیري په روغ ډول د هغو ۲۰ زره تنو، مجاهدینو له منځ څخه وباسي، چې د لارې دوو خواوو ته ولاړ او د خپل ماتې خوړلي دښمن ننداره یې کوله. په همدې وخت کې افغانانو له خپلې ژمنې سره سم د درې زره روپیو په بدل کې یوه زیاته اندازه غله-دانه انګرېزانو ته ورکړه. همدا رنګه د غلې-دانې سوداګرو ته یې هم اجازه ورکړه، چې خپل غنم چوڼۍ ته دننه یوسي او ویې پلوري، دغه سوداګرو دوه لپې غنم په یوه کالداره پلورل.

د دسمبر په پنځلسمه شاه شجاع هند ته له تګ څخه انکار وکړ او په بالاحصار کې یې د انګرېزانو په وړاندې د ملي جهاد په اعلامیه باندې لاسلیک وکړ. میرمن سیل په دې هکله ولیکل: شاه شجاع نه براخې دا، چې له انګلیس سره هند ته تګ نه غواړي، بلکې د خلکو بېلا بېل طبقات د انګلیس په وړاندې لمسوي، خو کله چې مکناټن غله هم ترلاسه کړه او پنځه زره تنه سرتیري ورته له بالاحصار څخه هم ورغلل او لا هم هند ته د مرستې په تمه دي. په شرمونکې توګه یې لاسلیک کړی تړون تر پښو لاندې کړ او نوې نوې دسیسې یې جوړې کړې. له دې لامله چې هغه نور د افغانستان له خلکو سره په روغه-جوړه کې ناهیلي شوي وو، نو دا ځل یې وغوښتل چې د امیر دوست محمد خان له زوی سره په پټه اړیکې پیدا او د هغوی د شخصي ګټو د ډاډمن کولو په بهانه هغه په افغانستان کې د انګرېزانو د پاتې کېدو وسیله وګرځوي. مکناټن په دې باندې پوهېده، چې نواب محمد زمان خان او سردار محمد عثمان خان د امیر وریرونه دغه ډول کار نشي کولای، امین الله خان لوګری او نور ملي رهبران هم سردارانو ته

Scanned by CamScanner

په باور نه ګوري، نو ددغې موخې لپاره یې ځوان سردار محمد اکبرخان، چې لا تر اوسه پورې په اغېزمن ډول د سیاست ډګر ته نه دی ننوتلی او پــه جګړه او سیاست کې یې آزموینه نه ده ورکړې، غوره کړ لکه څرنګه چې د میرمن سیل له لیکنو څخه ښکاري، په اصل کې مکناټن په دې لټه کې و. چې لاسلیك شوی تړون باطل کړي، مکناټن د سرو رخان لوانې په واسطه له وزیر محمد اکبرخان څخه هیله وکړه، چې له ده سره په پټه وګوري، هغه په خپل استازیتوب سلطان احمد خان تــه ور ولېږه. مکنــاټن پــه لاندیني متن سره د یو نوي تړون مسوده ورته وړاندې کړه:

۱ - له بولان څخه تر خیبر پورې په ختیځ کې او په لویدیځ کې. چې تر هر ځای پـورې د شاه شجاع د دولت قلمرو وي (یعنې پرته له غربي ولایتونو او د افغانستان له شمال څخه) د ټولو وزارت به سردار محمد اکبرخان ته وسپارل شي.

۲ - امیر دوست محمد خان کابل ته را استول کېږي او مربوطه وزارت د پلار او زوی په موافقې پورې اړه لري، چې کوم یو یې اخلي.

۳ - کله چې د افغانستان وضعیت وټاکل شو ، نور به انګرېزان مداخله نه کوي.

۴ - سمدستي به یو میلیون او دوه سوه زره روپۍ محمد اکبرخان ته ورکړل شي او په راتلونکي کې به هر کال دوه سوه زره روپۍ په خپله سردار ته ورکول کېږي.

۵ - سردار محمد اکبر خان به اوس نایب امین الله خان لوګري نیسي او انګلیســانو تـه بـه یې سپاري او نور ملي رهبران به له کابل څخه هرې خوا ته خپروي.

یواځې دا نه، بلکې مکناټن په پټه له نایب امین الله خان او نواب محمدزمان خان سره هم پټې خبرې کړې وې، خو دوی ټولو غوښتل چې انګرېز له وطن څخه ورك کړي او د مکناټن توطئې یو بل ته ویلې. سردار محمد اکبرخان، چې کله د مکناټن وړاندیز ترلاسه کړ، نو غوښتـل یې چې د پټو خبرو - اترو په ترڅ کې له غدار او تړون مـاتوونکي دښـمن سـره پـه وسلې سره معامله وکړي، نـو د سـردار سلطان احمدخان په واسطه، چې وکولای شول، چې مکناټن دې ته اړ کړي، چې په دې باندې باور وکړي، چې محمد اکبرخان د هغه د وړاندیز منلو ته چمتو دی، خو د مکناټن د ژمنې لـه عملي کولـو پـه وېره کې دی، نو مکناټن د سردار د ډاډمن کولو لپاره خپل وړاندیز د رسمي تړون په بڼه جوړ کړ او په هغـه باندې یې لاسلیك وکړ او ورته ویې لېږ او هم یې یـوه ګـاډۍ او خپلـه شخصي تومانچه د یادګار پـه توګـه ور واسـتوله. سردار محمد اکبرخان په ډېر مهارت او په پټه سره ملي رهبران له دغې پېښې څخه خبر کړل او دا هوډ یې وکړ، چې مکار او دوکه کوونکي دښمن به نیسي او د دښمن ټول ځواکونه بـه پـه زور لـه هـېواد څخه شړي. په دې توګه محمد اکبرخان له مکناټن څخه هیله وکړه، چې لـه ده سـره یـو غونډه کې کیني او نـوی تړون دې د دواړو تر منځ په رسمي توګه تبادله شي. مکناټن وویل، چې د دسمبر د یوولسـمې نېټې تړون لا اوس هم د ملي رهبرانو په لاس کې دی، نو غوره به وي، چې سردار هغوی پـه تېره بیـا د نایب امین الله خان لوګري د استازیتوب یو سند لـه ځـان سره ولـري. محمد اکبرخان ومنلـه او نایـب امـین الله خـان ډېر ژر یـو لیـك مکناټن ته ولیك او د نویو خبرو - اترو لپاره یې د غونډې د جوړولو هیله وکړه.

Scanned by CamScanner

دغه لیك د سردار محمد اکبرخان له پیغام سره د دسمبر د ۲۲مې نېټې د شپې په تیاره کې د سلطان احمدخان او یوه بل افغان په لاس په ملي اردو کې د انګلیسي برمته کپتان سکندر سره یو ځای د انګریزانو چوڼۍ ته واستول شو. مکناټن په خپله د شپې تر یوې بجې پورې هغوی سره پټې خبرې وکړې، محمد اکبرخان په هغه لیك کې، چې مکناټن ته یې استولی و، ورته لیکلي وو: د شاه شجاع وزارت منم، خو هغه پیسې، چې انګریز یې راکوي باید د اوس لپاره درې میلیونه او بیا په هر کال کې ځلور سوه زره وي. (حال دا چې مکناټن د اوس لپاره یو میلیون او دوه لکه او په هر کال کې د دوو لکو روپیو ژمنه کړې وه). د پیسو دغې غوښتنې او د محمد اکبرخان دغې چنې وهلو مکناټن ته دوکه ورکړه او په مجلس کې یې کنبېناستل ومنل. افغاني استازي له دغو پټو خبرو څخه وروسته غلی کابل ښار ته راوګرځېدل (هغه وخت د شیرپور چوڼۍ له کابل ښار څخه لرې وه، دا ځکه چې کابل ښار یواځې د بالاحصار لاندې او د کابل سیند طرف دوو خواووته و (ژ.)). خو مکناټن ډېر په بیړه او په پټه توګه په چوڼۍ کې امر وکړ، چې سبا ته دې دوه پلي کنډکونه او څو توپونه په محمودخان کلا (د نایب امین الله خان د قوماندې مرکز) باندې په ټاکلي وخت بېړنی برید وکړي او نایب دې مړ یا ژوندی ترلاسه کړي. البته د برید وخت هغه مهال ښودل شوی و، چې غونډه به پیل شوې وي. خو کله چې جنرال الفنستن دغه امر ترلاسه کړ سبا ته یې د عسکرو له لېږلو څخه ډډه وکړه او مکناټن ته یې وویل، چې که چېرې مونږ دا کار وکړو، نو افغاني مجاهدین په چوڼۍ باندې برید کوي، خو نایب امین الله خان له دغې فیصلې څخه د محمد اکبر خان په واسطه خبر شوی و، او خپل نظامي او دفاعي ترتیبات یې نیولي وو، هغه به په پرله پسې توګه له محمدخان کلا څخه د انګریزانو په لویه چوڼۍ په هغه یواځیني توپ باندې ډزې کول، چې دلته ور سره و او دښمن یې په کرار نه پرېښود.

## د ۱۸۴۱ د دسمبر ۲۳مه

د دسمبر په ۲۳مه انګریزانو د بي بي مهرو په چوڼۍ کې د تیارسۍ امر ترلاسه کړ او مکناټن له کپتان تریور، کپتان لارنس او کپتان میکنزي سره یو ځای له یوې سپرې قطعې سره یو ځای له چوڼۍ څخه ووتل او مخ په جنوب د محمودخان کلا په لوري (چې له چوڼۍ څخه ۶۰۰ ګامه وړاندې وو) چې هلته غونډه جوړېدله ولاړل. کله چې مکناټن هلته ورد‌رېد ګوري، چې محمد اکبرخان، محمد شاه خان غلجی، دوست محمدخان، خدای بخش خان، محی الدین خان او نایب مومن غلجایي سره له یو ځوتنو نورو په یوه نیږۍ باندې ناست دي او ده ته په تمه دي. سردار سلطان احمدخان ورته ستړي مشي ووېله او مکناټن ته یې د خبرو-اترو د ډېر ښه وخت په هکله ډاډ ورکړ. سردار محمد اکبرخان هم لاس ورکړ او په یوه هواره ځمکه یې په یوه افغاني پټو باندې غونډه

پیل کړه. مکناټن او د هغه درې تنه کپتانان د محمد اکبرخان، سلطان احمدخان او محمدشاه خان تر مخې کښیناستل. په داسې حال کې، چې دوست محمدخان او خدابخش (د محمدشاه ورونه) او محی الدین خان ولاړ وو. خبرې-اترې پیل شوې، محمداکبرخان د انګرېزانو له راننوتلو څخه تر اوسه پورې د دوی ټول هغه درواغ او دوکې او د ژمنو او تړونونو تر پښو لاندې کول ورته وشمېرل او د انګرېزانو هغه ټول ضد او نقیض اعمال او خبرې یې ورته یادې کړې، چې افغانانو سره یې کړي او ورته ویې ویل، چې نور نو د انګرېزانو هېڅ یوه خبره افغانانو ته د باور او منلو وړ نه ده. تاسې پرته له فساد او د افغانستان د خلکو تر منځ له تخریب څخه نور څه نه دي کړي او په دغه هېواد خپل تسلط ټینګول غواړئ. بیا یې نو دوه متناقض تړونونه چې د مکناټن لاسلیک وربانديې و د غونډې مخه کې کېښودل، چې په یوه کې یې د افغانستان د پرېښودلو ژمنه کړې وه او په بل کې یې دلته د دوی پاتې کېدل تائید کړي وو. دا یې هم ورته وویل، چې مکناټن له ده سره له نواب محمدزمان خان او نایب امین الله خان سره یو د بل په ضد لیده کاته کړي دي او ورته ویې ویل. چې نور نو مونږ ستاسې په یوه خبره او ژمنه هم باور نه لرو، خو په یوه شرط دا کار کېدای شي او هغه دا، چې مونږ تا برمته کړو او تر هغه پورې مو وساتو، چې ستاسې ټول پوځیان له افغانستان څخه ووځي، بیا به تاسې هند ته واستوو. د سردارمحمداکبرخان دغو خبرو تقریباً پینځلس دقیقې وخت ونیو. له دې لامله چې مکناټن د دوو بېلا بېلو تړونونو په وړاندې کوم ځواب نه درلود، نو هسې یې خبره ژووله. وزیراکبرخان ورته وویل، چې ډېره به ښه وي، چې تاسې له مونږ سره اوسې تر څو په کابل کې یوې پایلې ته ورسېږو. دا مهال یې امر وکړ، چې هغه ونیسي، تر ټولو مخکې یې په خپله د مکناټن لاس ونیو او د کابل خوا ته یې راکش کړ، خو مکناټن مقاومت وکړ، نو سردار سلطان احمدخان د هغه بل لاس ونیو. تر دې وخت پورې لارنس د محمدشاه خان په واسطه، ټریورد دوست محمدخان په واسطه او میکنزي د غلام محی الدین خان په واسطه بې وسلې کړل شوي وو، ټول دغه عملیات ډېر په سړه سینه یواځې په څو شېبو کې وشول. افغانانو غوښتل، چې دوی ژوندي او په برمته توګه تر هغه وخته پورې ځان سره وساتي تر څو، چې د دوی ځواکونه افغانستان بشپړ تخلیه کړي، نو دوی یې د کابل په لوري را وستل، مګر مکناټن او ټریور حمله وکړه او دفاع او زور وهل یې شروع کړل، له بلې خوا د مکناټن د ګارد د ټوپکو او افغان

ساتونکو تر منځ ډېرې پیل شوې. له دې لامله، چې د دښمن چونۍ ډېره لنډه وه او دا ویره موجوده وه، چې هغوی به برید وکړي او بندیان به ورڅخه خلاص کړي، نو بله هېڅ لاره نه وه، سردار محمد اکبر خان مکناټن او سردار سلطان احمد خان تریور ووژل. خو محمدشاه خان په بېړه ځان د میکنزي په وړاندې سپر کړ او د چړې له ګوزار څخه وژغورل شو او لارنس ته قصداً د تېښتې لار ورکړل شوه. تر څو ټولې خبرې انګلیسي مشرانو ته ټکي په ټکي ور ورسوي. لارنس پر یوه آس باندې سپور شو او ویې ځغاستل (انګرېزانو سمدستي د مکناټن دنده پاتنجر ته ور وسپارله او په تمه شول، چې افغانان څه کوي) کله چې افغاني مشران راستانه شول او محمود خان کلا ته راغلل. ګوري چې مجاهدینو د کپتان میکنزي د وژلو په نیت راودانګل، سردار محمد اکبرخان وړاندې شو او هغه یې د خلکو له برید څخه وژغوره، دا مهال یې مخ میکنزي ته کړ او ویې ویل، تاسې راغلي وئ، چې زمونږ هېواد ونیسئ؟!

له دغې ورځې وروسته ځوان (۲۴ کلن) سردار محمد اکبرخان د ټول ولس او ملي رهبرانو له خوا د افغانستان د سیاسي او نظامي مخکښ په توګه وپېژندل شو. په بله ورځ (د دسمبر په ۲۴مه) د نواب محمد زمان خان په کور کې د انګرېزي برمته وو (د میکنزي، سکنر، کنولي او ایري) په ګډون د انقلابي شورا غونډه جوړه شوه او په دې وروستیو ټولو پېښو باندې خبرې وشوې. ټولو د جرګې غړو، چې د پېښو له رښتینولۍ او مکناټن له متناقضو کړو وړو او د افغاني رهبرانو له نقشې څخه خبرتیا درلوده او پوهېدل، چې افغانانو غوښتل مکناټن ژوندی ونیسي او د افغان- انګلیس جګړه پای ته ورسوي، نو د مکناټن دوکه او ژمنې ماتول یې ورټل، خو د هغه د بېړني مرګ په هکله یې خپل خپګان هم وښود.

نایب امین الله خان د مکناټن اصلي خط غونډې (جرګې) ته ښکاره کړ، چې دده د سر جایزه د مکناټن له خوا سل زره روپۍ ټاکل شوې وه. د جرګې غړو دا هر څه واورېدل په پای کې دغې جرګې پرېکړه وکړه، چې د افغانانو او مکناټن تر منځ هماغه د دسمبر د یوولسمې نېټې دوولس توکیز لومړنی تړون له دریو نورو موادو سره باید په انګرېزانو باندې تطبیق شي. که نه د توري له زور څخه به کار واخیستل شي؛ درې نور مواد دا وو:

۱- انګرېزان دې خپلې ټولې زېرمې افغانانو ته وسپاري.
۲- د انګرېزانو ټول توپونه پرته له شپږو دانو څخه دې نور ټول افغانانو ته ورکړل شي.

Scanned by CamScanner

۳- نامتاهل برمته دې په متاهل برمته وو بدل شي. له دې پرته هغه څلور لکه روپۍ، چې مکناټن یې ذمه وهلې وه هغه دې افغانانو ته ورکړل شي. د جرګې دغه پرېکړه ډېر ژر چوڼۍ ته واستول شوه. هلته د پاتنجر او جنرال الفنستن په مشرۍ د انګلیسانو نظامي غونډه د افغانانو ددغه نوي وړاندیز په هکله پیل شوه دغه وړاندیز په غونډه کې ومنل شو. یواځې یو شمېر انګلیس متاهلو انګرېزانو د خپلو ښځو د برمته کېدو په هکله ناخوښي ښودله. نور نو افغانانو هم په دې هکله ډېر ټینګار ونه کړ.

په هر حال، د انګرېزانو نظامي مجلس د کابل د پرېښودلو نېټه د ۱۸۴۲ کال د جنوري شپږمه وښودله او د خپلو اوولس نیم زریز اردو د لېږد لپاره یې لس ورځې وخت وغوښت، په دې ترڅ کې د انګرېزانو د مسیحي اختر ورځې په ویر تیرې شوې. ددغو لسو ورځو په ترڅ کې افغانان ډېر په آرامۍ سره په تمه کښېناستل، خو په انګرېزي چوڼۍ کې ویره خوره وه. د دسمبر په ۲۲مه په چوڼۍ کې خبر خپور شو، چې افغانان غواړي چې ټولې انګلیسي ښځې برمته او ټول نارینه ووژني او یواځې یو تن لاس او پښې پرې کړي ژوندی انګرېز د خیبر په خوله کې ژوندی پرېږدي، تر څو د انګلستان او هندوستان خلك هغه د سر په سترګو وګوري. دغه تبلیغ انګرېزان ډېر زیات وویرول. د دسمبر په ۲۷مه یو ځل بیا د انګرېزانو نظامي غونډه په چوڼۍ کې جوړه شوه، چې په هغې کې افغان ملي ځواکونو ته د څلور سوه زرو روپیو په ورکړه خبرې وشوې او وروسته بیا دغه پیسې افغانانو ته ورکړل شوې. د دسمبر په ۲۸مه انګلیسي چوڼۍ ته دا خبر را ورسېد، چې افغانانو د مکناټن مړی د کابل په چوك کې د خلکو د ننداري لپاره ایښی دی. د دسمبر یوولسم تاریخ د ترون سره سم افغاني رهبرانو په کلکه سره ددې انتظار کاوه، چې انګرېزي ځواکونه به له کندهار او جلال آباد څخه وځي او د کابل له تخلیې څخه مخکې به هندوستان ته ځي. دوی دغه موضوع جنرال الفنستن ته هم یاده کړه، خو د کندهار او جلال آباد انګلیسي قوماندانو له ترون څخه سرغړونه کوله او هند ته له ستنېدو څخه یې انکار کاوه، دا ځکه چې د هند انګلیسي دولت دوی ته د نظامي مرستې د رالېږلو وعده کړې وه او د افغانستان د دایمي نیولو تاکید یې کاوه، د بېلګې په توګه دوی په پنجاب او پېښور کې د عسکرو په سمبالولو لاس پورې کړی و تر څو ۱۵۰۰۰ عسکر کندهار ته او ۲۵ زره عسکر جلال آباد ته راولېږي. د افغانستان د ختیز محاذ قوماندان جنرال پالك ته دنده ورکړل شوې وه، چې ډېر ژر له پېښور څخه جلال آباد

Scanned by CamScanner

نه راشي، د ملي اردو قاصدانو په پرله پسې توګه دغه خبرونه له کندهار او جلال آباد څخه کابل ته رارسول او ورځ په ورځ د انګلستان د حکومت خیانت او دروغ بربنډ کېدل سره له دې، چې ملي رهبرانو د جنرال الفنستن او شاه شجاع امر او فیصله په کندهار کې جنرال نات ته او په جلال آباد کې جنرال سیل ته واستوله، خو دا خبر ښه ډرګند شو، چې انګلیسي دولت په خپله خوښه له افغانستان څخه نه وځي، بلکې د دایمي نیولو خیال یې ورسره دی، په دې توګه انقلابي شورا فیصله وکړه، چې دا کار به د تورې په زور کوي، نو په تمه کښېناستل، چې لومړی د کابل د چوڼۍ انګلیسي اردو وتل پیل کړي. دغه اردو خامخا باید کابل پرېښې وای، دا ځکه چې د کندهار، جلال آباد او د هند د انګرېزانو د قوت په پرتله د افغانانو د جګړې په ډګر کې ډېر ښه ولید، حال دا چې د انګلیسانو حکومت له لرې څخه او د دفترونو د میزونو له شا څخه د خپل اردو په برخلیک باندې قمار واهه، د افغانستان ملي مبارزینو د دښمن له دغې دوکې او چل څخه زړه په تنګ شوی و. او د انګرېزانو اردو په کابل کې دېرځېدو ورستی ګام ته نږدې شوی و میرمن سیل د کابل له تشولو څخه مخکې د انګلیسي شعرونو په یوه کتاب کې یو پال وکوت، د انګرېزي شاعر کیمپل(۱) د شعرونو په دغه کتاب کې دغه بیت ورته راووت:

"چېرته چې یوه ډله سره راټوله ده باید خو تنه یو له بل څخه جلا شي واوره به یې کفن شي.
له وښو ډکه هره لویشت ځمکه به د دوی تر پښو لاندې د یوه عسکر هدیره وګرځي."

میرمن سیل دغه بیتونه په داسې حال کې ولوستل، چې د هغې د نظر مراندې کابل په غرونو، ډګرونو، درو، کلاوو او باغونو پرېوتې وې او هر څه د سپینو واورو تر سپینې پړستنې لاندې په ژور خوب ویده وو او د کابل غرونو لکه د یوه سپین ښامار په شان له دې ټولو څخه کړی راتاو کړې وه. دا مهال د انګلیسي لښکر اوولس زره او پېنځه سوه تنو سرتېرو خپل بار اوبستره تړله او غوښتل یې د دغه ښامار له ستوني څخه تېر شي. دغه هوښیاري انګرېزي میرمنې له دغې سترې منظرې څخه یو بد شګون واخیسته او له خپل بده شامته یې وویل: خدایه مونږ د هغه څه له شر څخه وساتې، چې ورڅخه ویرېږو او اټکل کوو یې. که چېرې کوم افغان د دغې انګرېزې دا ادعا اورېدلې وای، نو خامخا یې ځان سره ویلي و، چې دا وګوره، چې: "کاروان هم خدای خدای کوي او غل هم!"

---

۱. Campbell (۱۷۷۷ - ۱۸۴۴).

Scanned by CamScanner

## د کابل پرېښودل (د ۱۸۴۲ د جنوري شپږمه)

خو په پای کې د انګرېزانو لښکر وروسته تر دوه میاشتو او څلورو ورځو جګړې څخه د کابل پرېښودلو ته اړ شو. انګرېزانو د وتلو پر مهال هم له دوکې څخه کار اخیست. دوی هغه توپونه د ترون له مخې افغانانو ته ورکول، چې هغه د شمېر له مخې کم او ویجاړ شوي وو. کله چې انګرېزانو د کابل له چونۍ څخه وکتل دوه زره اوښان یې بار کړي وو او د شپږ ورځو خرځ هم ورسره و. دغه کاروان په درې برخو وویشل شو. پیشدار، د کاروان اصلي برخه او د کاروان لکۍ. چې په یو بل پسې د چونۍ له مخکینۍ او وروستۍ دروازې څخه ووتل. د دوی وتل د سهار په نهه نیمو بجو پیل او تر مازیګره خلاص شول. مخې د کاروان په مخه کې وې او خزانې د کاروان په منځ کې وې د کاروان تر ټولو وروستۍ برخه د لمر لوېدو په شیبو کې له چونۍ ووته او ددې څخه وروسته بیا چونۍ خلکو ونیوله او دغه ناولی یادګار وسوځول شو. انګرېزي کاروان لکۍ ددغو لمبو په رڼا کې لار وهله او د کابل ښځو له خپلو بامونو څخه د اور د لمبو دغه رڼا، چې په سپینو واورو یې د سرو زرو کرښې انځورولې لیده او د خپل ملت په ستر بریالیتوب یې خوشحالي څرګندوله.

انګرېزي اردو لومړۍ شپه په بګرامیو کې واړوله، په داسې حال کې چې، د جنرال سیل لښکرو په جلال آباد کې جګړې ته ځان چمتو کاوه او ملي اردو ته په جلال آباد باندې له پېښور څخه د انګرېزانو رانږدې کېدونکې برید خبرونه را ورسېدل. د ملي رهبرانو جرګه په دې باندې وپوهېده، چې که چېرې د جنرال الفنستن اردو په جلال آباد کې د جنرال سیل له پوځ سره یو ځای شي، له افغانستان څخه به د دفاع چاره ستونزمنه شي، بیا به د جنرال پالك ځواکونه له پېښور څخه او د جنرال نات ځواکونه به له کندهار څخه کابل ته راشي او جګړې به بیا له سره پیل شي. په دې توګه ملي غونډې سردار محمداکبر خان او محمدشاه خان غلجي ته واك ورکړ، چې پرې نه ږدي چې د الفنستن ځواکونه له خپلو وسلو سره د جلال آباد پوځ سره یو ځای شي. سردار محمداکبرخان ډېره هڅه وکړه، چې الفنستن په دې باندې اړ کړي، چې مخکې له دې چې جلال آباد ته ورسېږي، نو باید سیل له جلال آباد څخه وتلی وي، خو دا کار ونشو سردار وغوښتل، چې جلال آباد ته له رسېدو څخه مخکې د الفنستن وسلې ورڅخه واخلي، خو جنرال دا خبره ورسره نه منله. سردار محمدخان دا هڅه هم وکړه، چې له انګرېزانو سره د آخري مفاهمې په خاطر د انګلیس یو شمېر غټ غټ افسران خان سره برمته کړي، خو د هغه دا غوښتنه هم پرته له جګړې څخه ناممکنه وه. په دې توګه د افغانانو چریکې بریدونه او د شپې له خوا یرغلونه وربانديې پیل شول او انګرېزي پوځ په کلکه دفاع کوله.

یو شمېر انګرېز تاریخ لیکوالو هڅه کړې وه، چې د انګرېزانو دغې ماتې ته یو شمېر لاملونه وتراشي لکه د هوا سوړوالی یا د خوراك کمښت، د عمومي قوماندې بوډاتوب او داسې نور. دا ټول هسې د انګرېز پر ماتې باندې د پردې اچول دي او دا د واقعیت خلاف دي، دا ځکه چې انګرېزي ځواکونه کوم د مرکزي افریقې له هېوادونو څخه نه وو، چې واورې او سړه هوا یې نه وي لیدلې او نه هم د کابل-جلال آباد لاره د شمال قطب و دغه د اوو ورځو لاره سمه نیمایي یې معتدله او لکه د هند په شان د ښکلې هوا

لرونکې وه، خو نیمه نوره یې ژمي او د واورې لرونکې وه. خو دغه ژمی او واوره هم د انګلستان تر ژمي او واورې ډېره سخت او سوړ نه و، په همدې ژمي کې افغان پوځ هم لکه د انګرېزانو په شان په بیدیاوو کې جګړه کوله. حال دا، چې د دوی په پرتله د انګلیسانو پوځ او وسله ډېره سمباله او منظمه وه. افغانانو یواځې په یوه توره، یا کرچ او ټوپك باندې جګړه کوله. خو انګرېزانو هر څه لرل. په دې توګه دغه جګړه یوه مادي او فزیکي جګړه نه وه، بلکې یوه معنوي جګړه وه. افغانانو په دواړو کې دښمن ته ماتې ورکړه.

هغو کسانو، چې غوښتي دي، چې ددغې جګړې په تشریح کې وزیر محمد اکبرخان او محمد شاه خان غلجایي او نور ملي لارښوونکي او مشران بې تعلقه او د افغاني مبارزینو په مخنیوي کې عاجز وګڼي، هم دواقعیت برخلاف ده، دا ځکه چې وزیر محمد اکبرخان او د هغه ملګرو د هېواد د ژغورنې په خاطر د دښمن د لښکر له منځه وړل خپله دنده بلله او محمد شاه خان په خپله د غلجیو د مبارزینو مشر و، چې په دغه جګړه کې د ټول ملي پوځ بشپړ اکثریت یې جوړ او ټولو افغاني مبارزینو د دوی دواړو امر او نهی د زړه له تل څخه منل، نور دیوې اونۍ په ترځ کې د دښمن پوځ ګام په ګام خپلې وسلې، توپچي او سرتیري له لاسه ورکول، تر څو چې له دغه اولس نیم زریز پوځ څخه یواځې یو تن ټپي او ځپل شوی، خو ژوندی تر جلال آباد پورې ورسېد او ددغې تاریخي ماتې خبر یې د انګرېزي سپاهیانو جنرال سیل ته ورساوه. د انګرېزانو د وتلو په لاره کې د سه بابا په سیمه کې انګلیس جراح ډاکتر دف ددغې جګړې له ویرې خپل رګ پرې کړ او ځان یې ووژه. د جنوري په یوولسمه د انګلیس سپه سالار جنرال الفنستن سردارمحمد اکبر خان ته خپل تسلیم کېدل، پیشنهاد کړل او محمد شاه هغه د شپې په تیاره کې خپل لښکرکوټ ته راوست. دغه لښکرکوټ په پرانیستې فضا کې تر شنه آسمان لاندې و، چې شا و خوا اوربل و او افغاني رهبرانو (وزیر اکبرخان، عبدالغفارخان، عبدالحکیم خان او نور ناست وو، په یوه څنډه کې یوه کوچنۍ خیمه وهل شوې وه. افغاني مشران پاڅېدل او تسلیم شوي دښمن جنرال او د هغه ملګري (جانسن) ته یې په مېړانه سترې مشي وویله او د هغوی توري یې ورته له ملا څخه خلاصې نه کړې او هلته یواځینۍ خیمه یې د دوی د استراحت لپاره ورته ورکړه.

په رښتیا سره په دغه جګړه کې، چې د یوه آسیایي او یو اروپایي هېواد تر منځ پېښه شوه، یو یې انګرېز لویدیځوال نوې د نړۍ امپراتور شوی هېواد و، چې په سوداګرۍ، وسلې او استعماري اخلاقو یې ډډه لګولې وه او مغرور و، او دا بل یې یو لرغونی آسیایي هېواد و، چې خپل شرقي د کریمانه اخلاقو اصالت یې ساتلی و او د افغان-انګرېز په لومړۍ جګړه کې یې دغه اخلاق له ځان څخه ثرګند کړل. افغانانو خپل اسیر میلمانه په درنښت سره وپالل، هغوی یې وساتل او د دښمن میرمنې او ښځې یې لکه د ورونو په شان په شرافت او پت سره خوندي کړې. د اندرس یوه لور د خورد کابل په جګړه کې د مور او پلار له تېښتې څخه وروسته یې د جګړې په میدان کې پاتې وه. افغاني مبارزینو هغه کابل ته راوستله او د نواب محمد زمان خان کور ته یې، چې د دښمن د پناه اخیستونکو د میلمستون بڼه یې غوره کړې وه وسپارله. نواب څو میاشتې دغه نجلۍ په خپل حرم کې لکه د خپلې لور په شان وساتله،

تر څو چې بېرته یې روغه جوړه د هغې مور او پلار ته وسپارله. تر ټولو غوره دا، چې په دې برخه کې به خپله انګرېزان لکه میکنزي او...

د وزیر د مړینې په هکله په غلطه خبرې خپرې شوې، چې ګوا کې امیر هغه د هغه سیاسي اختلافاتو له لامله چې د زوی او پلار تر منځ و مسموم کړ. په دې آوازې سره امیر نور هم د خلکو د کرکې وړ وګرځید امیر ډېر ژر د وزیر عیني ورور سردار غلام حیدرخان، چې په غزني کې یې د انګرېزانو په وړاندې جګړه کړې وه، د وزیر د ځای ناستي په توګه اعلان کړ او ویې ویل، چې هغه د پوخ آمر او د دولت او سیاست واك لرونکی دی. همدا رنګه په لغمان کې او جلال آباد کې د وزیر دوه پوځونه او ددغو دووولایتونوواك یې غلام حیدرخان ته ورکړ. حال دا، چې پخوا امیر انګرېزانو له ویرې ولیعهدي وزیراکبر خان ته نه وه ورکړې، خو اوس یې غلام حیدر خان د ولیعهد په توګه مقرر کړ. په هر حال، د امیر دغه نقشه سمدستي ورته ګټه وکړه د وزیر پلویان د ولیعهد پر شا و خوا راټول شول او په پرله پسې توګه یې هغه د افغانستان د ختیزو ولایتونو د بېرته ترلاسه کولو لپاره وهڅاوه او د سند تر غاړو یې د لښکر د لېږلو هیله ورڅخه وکړه. امیردوست محمدخان هم د عامه فشار لاندې اړ شو، چې سر وخوځوي، خو په رښتیا سره یې ددې خبرې جرات نشو کولای.

هغه یواځینی ملي مبارز، چې په امیر یې لا هم باور نه درلود هغه هماغه محمدشاه خان غلجایي و، چې لغمان د بدیع آباد په کلا کې مېشت و او ویل یې، چې امیر دوست محمدخان د انګرېزانو پلوی د افغانستان د پاچاهۍ وړتیا نه لري له کابل څخه تر ننګرهار پورې ټول غلجي او ټول جبارخېل همدومره سره کلك ولاړ وو ، نو ځکه د امیر او دده تر منځ جګړه پېښېدونکې وه. په دې توګه امیر په ۱۸۴۷ کې د محمدشاه خان په وړاندې یو لښکر ولېږه، خو په لومړۍ نښته کې د امیر لښکر له ماتې سره مخامخ شو. امیر چې خپلې پاچاهۍ ته د ګواښ احساس وکړ، بیا یې له سره یو بل پیاوړی پوځ جوړ او د ۱۸۴۸ کال په اپریل کې په خپله ددغه پوځ په سر کې چې د منظمو او غیر منظمو سرتېرو شمېر یې ۲۵ زره تنو ته ورسېد د ننګرهار د ولایت خوا ته ورغی. ولیعهد له یو بل لښکر سره لغمان ته ولاړ. د محمدشاه خان ورور (دوست محمد) یې د بدیع آباد په کلا کې کلابند کړ. په ننګرهار کې د امیر دوست محمدخان او محمدشاه خان او په لغمان کې د دوست محمد خان او غلام حیدرخان تر منځ جګړه اوږده شوه. دا وخت د جبارخېلو مشر عبدالعزیز خان، چې له محمدشاه سره په یوه صف کې و، د محمدشاه خان لوری پرېښود او له امیر سره یو ځای شو. دې کار د محمدشاه ځواك مات کړ، نو ځکه هغه د کاشمن (کشمند) غرونو ته وخوت. امیر ورپسې ورغی کاشتمن یې کلابند کړ. کله چې دوست محمد د خپل ورور له ماتې څخه خبر شو، زړه یې بایلود له بدیع آباد کلا ولیعهد ونیوله. دوست محمد ځان کاشمن کې خپل ورور ته ورساوه له دې لامله، چې په یوه بې غلې-دانې غره کې دفاع ډېر ستونزمن کار و، نو ځکه محمدشاه خان له خپلې کورنۍ سره یو ځای فراچغان ته ولاړ او دلغمان او نورستان تر منځ سختو غرونو ته وخوت، په دې توګه د یوه بل اتل داستان هم پای ته ورسید. له دې پېښو سره یو ځای په سند او پنجاب کې د افغانستان په ګټه مهمې په زړه پورې پېښې وشوې. خو امیر دوست محمدخان له هغو څخه د

افغانستان په ګټه هیڅ استفاده ونه کړه. په ۱۸۴۸ کال کې، چې د پنجاب دولت د انګلیسانو تر سیاسي او نظري ګوزارونو لاندې و، پنجابیانو هم د ځان د ساتنې په خاطر تورې ته لاس کړ. په ملتان کې (مولر راج) دوه انګریزان ووژل. په چج هزاره کې (چتر سنګهـ) پاڅون وکړ او په پېښور کې د سکهـ ساخلوي عسکرو د انګرېزانو په وړاندې پاڅونونه پیل کړل. دانګرېزانو نماینده جورج لارنس له خپلې ښځې سره سردار سلطان محمد خان ته پناه یووړه هغه دواړه سکهـ ځواکونو ته وسپارل. د پنجاب پاڅون کوونکي، چې د انګرېز له قوت څخه خبر وو، د دښمن په وړاندې د بریالي کېدو په خاطر یې د افغانستان دولت ته مخ واړاوه او د نظامي مرستې وړاندیز یې وکړ او د افغانستان دولت ته یې وویل که افغانستان مرسته وکړي، پنجاب به افغانستان ته نه یواځې د پېښور او دیره جاتو ولایتونه بېرته ورکوي، بلکې له سند څخه پورې غاړه یو شمېر سیمې به هم ورکړي.

لارنس او لیډي سیل او نورو د افغانستان د خلکو دغه ځانګړتیا او اخلاقي کرامت ستایلی دی، په هر حال، انګرېزي سپاهیان د کابل د پرېښودو په لومړۍ ورځ (د ۱۸۴۲م کال د جنوري شپږمه) باندې په بګرامي کې، چې له کابل ښار څخه پېنځه میله ختیځ کې پروت دی دمه وکړه. مبارزینو تر دې ځای پورې له انګرېزانو څخه هغه توپونه واخیستل، چې د ۱۹۴۱ کال د دسمبر د یوولسمې نېټې له تړون څخه یې اضافه ځان سره بار کړي وو، د جنوري په اوومه دوی د بتخاک په دوهم پړاو کې و. له دې لامله، چې لا تر دې مهال پورې په جلال آباد کې جنرال سیل د تړون سره سم دغه ځای نه و پرېښی، نو سردار محمداکبرخان په بتخاک کې شپږ تنه نور انګرېزي افسران له جنرال الفنستن څخه برمته کړل. د جون په اتمه د دښمن پوځ خورد په کابل باندې برید وکړ. د انګرېزانو اردو تر دې ځایه پورې دوه زره تلفات درلودل، د درې دننه تر پېنځه میله پورې جګړه روانه وه. په دې ځای کې یې درې زره تنه نور هم ووژل شول. د خورد کابل درې ته د الفنستن د لښکر هدیره وویل شوه. د جنوري په نهمه جنرال الفنستن ته لا لس زره عسکر ژوندي پاتې وو. نو سردار محمد اکبرخان سره یې د خبرو -اترو هیله وکړه او جنرال سیل ته یې هم ولیکل، چې ډېر ژر جلال آباد پرېږدي. ددې په مقابل کې محمداکبرخان د انګلیسي لښکر ټول ښځینه او نارینه بندیان خوشې کړل او په خپل حمایت یې د انګلیسانو په جبهې پسې ور ولېږل. د انګلیسانو لښکر بیا حرکت وکړ او د خاک جبار تر سیمې پورې ورسېدل، خو دلته هم د افغانانو تر برید لاندې راغلل. د جنوري په ۱۰ - ۱۱ د تیزس او جګولک تر منځ د ۲۲ میلو په واټن کې د انګلیسي لښکرو تلفات نور هم زیات شول، خو جنرال سیل د انګلیس د حکومت له هدایت سره سم په جلال آباد کې سنګر ټینګ کړ او دا کار ددې لامل شو، چې د کابل لښکر یې ټول تباه شي، کله چې جنرال الفنستن دا حال ولید، په خپله له دوه تنو لویو افسرانو سره سردار محمداکبر خان ته تسلیم شو، لکه هغسې چې امیر دوست محمد خان مکناټن ته تسلیم شوی و. د جنوري په ۱۲مه د انګلیس د کابل پاتې لښکر له جګدلک غاښي څخه په تېرېدو سره د جنرال سیل د لښکر کوټ په لوري روان شول، د جنوري په ۱۳مه له دغو ټولو عسکرو څخه یواځې یو تن (داکتر برایدن) وکولای شول. چې جنرال سیل ته ژوندی ور ورسېږي او د کابل د لښکر ټوله کیسه یې ورته وویله، په خپله هم درې ځایه ټپي شوی و. یوه ملي شاعر

ددغې تاریخي پېښې په هکله د سردار محمدخان د توري او مېړانه په هکله یو قصیده لیکلې وه، چې یو بیت یې دا دی:

بهما از سر سران فرنگ

قرن تا قرن استخوان بخشی

## په جلال آباد کې

سردار محمداکبر خان د جلال آباد کلابند شوي انګرېزان لښکریان همداسې کلابندۍ کې وساتل او په خپله له انګلیسي بندیان او برمته ورسره، چې ښځې، نارینه او ماشومان پکې وو او شمېر یې ۴۴ تنه کېدل او په هغو کې د جنرال سیل مېرمن، د مکناټن مېرمن او اووه تنه لوی لوی انګلیسي افسران شامل وو، لغمان ته ولاړ او محمدشاه خان خپلې بدیع آباد کلا کې هغه خوندي کړل او ځلور میاشتې یې د دوی اعاشه او اباته په غاړه وه. دې وخت کې مکریګر له جلال آباد څخه ورته ولیکل: که انګرېزي بندیان خوشې کړې دوه سوه زره روپۍ به ور کړي، محمدشاه دغه انګرېز ته، چې پیسې یې د تولو ستونزو حل بللې او هغه یې تر شرافت څخه هم لوړې ګڼلې ولیکل: "ستاسې لیك مې خوښ شو، خو تاسې زما دوست باید پوه شئ، چې خیانت نه زما په دین کې او نه ستاسې په دین کې روا دی."

په همدغه موده کې یوه ځوانه انګرېزه (وید) په یوه افغاني زلمي باندې مینه شوه، یعنې د تعصب او دښمنۍ سره سره او د روزنیزو بدو تلقیناتو باوجود یو ځل بیا د بشري روح ځلا را څرګنده شو (د کینې او تعصب په تورو لړو انساني عواطف بریالي شول.) خو د جنرال سیل ۵۱ کلنې ښځې دغه (ګمراه ښځه) وبلله. د سیل پوځ چې لا مخکې یې د غلجینو په وړاندې له ډېرو تلفاتو او له کابل څخه تر جلال آباد پورې د بختیار مجاهد د ګوزارونو سره سره د سیدمحمد جانفشان پغماني په مرسته د ۱۸۱ د نوامبر په ۱۲مه جلال آباد ته ورسېد، د ښار خلك یې وایستل ځانونو ته یې مورچلې جوړې او آذوقه او بوس یې په ودانیو کې زیرمه کړل، خو کله چې سیل ته د کابل د جګړو خبرونه راتلل، په ویره کې شو او هندوستان په روغ صورت له ستنېدو څخه ناهیلی شو. نو له هندوستان څخه د مرستې په هیله یې کلابندي غوره وبلله. پېنځه زره تنو ملي مبارزینو د انګلیسانو دغه لښکر کلابند کړی و او د انګرېزانو قوي توپچي کلابندي وغځوله، حال دا چې مجاهدینو د توپچي ځواك نه درلود. له بلې خوا ملي مبارزینو د خیبر لاره وتړله. دا مهال لا جنرال پالك په پنجاب کې د نویو ځواکونو په چمتو کولو بوخت و، د ۱۸۴۲ کال د جنوري په میاشت کې په پېښور نظامي افسرانو او د هغه ځای حاکم د انګرېزانو او سکهانو په ګډون د مکنل وایلډ په مشرۍ یو پېنځه زره کسیزه پوځ او څلور توپونه د خیبر د لارې د پرانیستلو او د جنرال سیل د لښکر د ژغورنې لپاره چمتو کړل. دغه پوځ له جمرود څخه راتیر شو او تر علي مسجد پورې رارسېدلی و، چې د اپریدلو تر برید لاندې راغلل. مکنل وایلډ تېښتې شو او د لښکر ۱۲۰ تنه یې ووژل شول او مخ په پېښور وتښتېد. له دې وروسته د سیل کلابندي ډېره سخته شوه، خو طره باز مهمند دوی ته له پېښور څخه په پټه پیسې او د انګرېزانو لیکونه ورته رسول، خو ډېر ژر دغه

Scanned by CamScanner

وسیله هم د دوی له لاسه وو تله دا ځکه چې له لغمان څخه احمد خان میراخور خیبر ته را ورسېد. خلك د هغه شا و خوا تېول شول، نو طره باز و تښتېد. دهغه ځای یو ځل سعادت خان لالپوري ونیو، په دې توګه خیبر د مجاهدینو تر ځارنې لاندې راغی او اپریدي او مهمند خلك د انګلیسانو په ضد جګړې ته تیار شول.

کله چې سردار محمد اکبر خان او محمد شاه خان په جنوري کې د لغمان د چارو له سمبالولو او د انګلیسي بندیانو له ډاډمن کېدو څخه وزګار شول. له پېنځلس زره پلي او پېنځه زره سپور پوځ سره له لغمان څخه جلال آباد ته راغلل او د کلابندۍ جګړه یې پیل کړه. دوی په دریو بریدونو کې دښمن له لوري مالي او ځاني زیان سره مخامخ کړ. نه یواځې له پېښور څخه د مرستې د رارسېدو هیله پاتې وه، کله چې د ملي مبارزینو لښکر خبر شو، چې په پېښور کې د اردو لپاره مرسته باندې کار کېږي، ډېر ژر سردار محمد سلطان احمد خان او محمد شاه خان له درې زره مجاهدینو سره د خیبر د درې مخې ته ورغلل. وزیر اکبر خان یوه بندي انګرېز په خوله جنرال سیل ته د ښار د ننه خواب ورولېږه، چې که چېرې ښار پرېږدي او تسلیم شي، نو مجاهدین ضمانت کوي ټول انګرېزي لښکر به روغ-رمټ له خیبر څخه هاخوا واړوي، خو جنرال سیل چې د کابل د لښکر حال ته کتل دا جرات یې ونه کړ. نو یوې انګرېزي دوکې څخه یې کار واخیست او د سل زره روپیو په منلو سره یې د سردار محمد اکبر خان ملازم پاینده کاکړي دوکه کړ تر څو سردار ووژني، یوه ورځ چې اکبر خان د ښار د استحکامات معاینه کړل او د هغو کمزوري ځایونه یې له لرې لټول پاینده ورباندې د ټوپك ډز وکړ، خو سردار مړ نه شو، ټپي شو، ساتونکي را ورسېدل، پاینده یې ونیو او اعتراف یې وکړ، چې انګرېزانو د پیسو په ورکولو دا کار ورباندې کړی وي سره له دې، چې اکبر خان هغه وبخښه، خو ملي مبارزینو هغه مړ کړ، د انګرېزانو لکه عادت یې دی، تبلیغ یې وکړ، چې دا کار د شاه شجاع په امر شوی دی، حال دا چې شاه شجاع په بالاحصار کې د خپل ناتوان ځای په دفاع بوخت و.

په لغمان کې هم د جنرال الفنستن او بریګېډ شلټن توره د هغې تورې پر ځای واخیستل شوه، چې امیر دوست محمد خان مکناټن ته تسلیم کړې وه او ټول بندیان بې وسلې کړل شول. د هغوی د ساتونکو شمېر هم دوه برابره زیات شو. دا ځکه چې له بندیانو څخه داسې لیکونه پیدا شو، چې له جنرال څخه ورته رارسېدلي وو. د مارچ په میاشت کې په جلال آباد کې د انګلیس پر پوځ باندې فشار زیات شو. په زړګونه نوې مبارزین جلال آباد ته رامات شول. افغاني لښکر کوټ د کابل- جلال آباد د دروازې په یو کیلو متري واټن کې ځای پر ځای شو او ډېر ژر "چلم غونډۍ" ونیول شوه تر څو ښار تر اور لاندې ونیولای شي. له بلې خوا د ښار د جنګي برجونو د نړولو لپاره نقب کیندل هم پیل شول. ښار ته تګ راتګ داسې بند شو، چې ښار ته د آذوقې او پیسو د وړلو لاره بنده او په دې توګه د ښار پرخېدل لنډ شول. د پخواني ګور جنرال له خوا د جنرال پالك هغه وروستۍ دنده، چې ورته سپارل شوې وه دا وه، چې که وکولای شي فقط جنرال سیل ژوندی پېښور ته ورسوي او بس.

په همدې میاشت کې په کابل کې د خلکو یوه لویه غونډه جوړه شوه. نایب امین الله خان او میر حاجي

Scanned by CamScanner

جلال آباد ته د ورتګ او د انګرېزانو د وروستي سپاهي د ورکولو په خاطر جهاد اعلان کړ. د ملي استازیو په بالاحصار کې پاچا سره کتنه وکړه او ورته یې ویل: که هغه افغان او مسلمان وي. باید ملي پوځ سره یو ځای شي او د هېواد د پاچا په توګه د وګرنيز اردو په سر کې ودرېږي او دښمن له جلال آباد څخه وباسي. پرته له هغه به د افغانستان خلك هغه ته د پاچا او اولی الامر په توګه او نه هم د افغانستان او مسلمان په توګه وپېژني. بلکې د ديني علماوو له فتوا سره سم به له هغه څخه خپل شرعي بیعت واخلي، بیا به نو په جلال آباد کې له جهاد څخه مخکې په کابل کې د پاچا په وړاندې جهاد پیل شي په دې توګه شاه شجاع د جلال آباد لورې د تګ لپاره چمتو شو او د سفر د تیاري لپاره یې خوورځې وخت وغوښت. ملي رهبرانو لکه نایب امین الله او میر حاجي او نورو هر یوه په سیاسنګ کې د جهاد جنډې ورپولې او په زرګونو وسله وال ور لاندې راټول شول او په تمه شول، چې پاچا کله روانېږي په غزني کې پرته له څو بندي انګرېزانو نور یو هم نه و پاتې او سردار شمس الدین خان د کندهار د انګرېزانو د راتګ د مخنیوي لپاره زرګونو مجاهدینو سره چمتو شو، حال دا چې جنرال نات او د کندهار انګلیسي پوځ وروسته تر دې، چې اته زره تنه یې ووژل شول. فقط د شهزاده تیمور د جنډې تر سیوري لاندې اوسېدل او دوی هم د ملي مبارزینو تر برید لاندې راتلل. په هغه وروستي برید کې، چې مجاهدینو تر سره کړ، دښمن د بار وړلو درې زره اوښان ورڅخه ونیول شول. په دې توګه نور نو دښمن ته د خوځېدلو څه پاتې نه شول. دا وخت په افغانستان کې د انګرېزانو ۵۴ زریز پوځ پاتې برخه هم له ماتې سره مخامخ کېدونکې وه، جنرال نات او جنرال سیل په جلال آباد او کندهار کې د له منځه تلو له وېرې د په شا تګ لپاره هم وخت ونه موند. دوی لا هم د خپل ځان د ژغورنې په تمه د انګرېزانو د نویو پوځونو راتګ ته سترګې په لار وو. انګلیسي دولت د جګړې په ډګر کې د ماتې د ببرته جبران په خاطر دیپلوماسۍ ته لاس واچاوه، دا ځکه چې له یوې خوا په اروپا کې د امپراتوري حیثیت له خاورو سره برابر شوی و، له بلې خوا یې په هندوستان کې هم باداري په پرځېدو وه او د ملي پاڅونونو له ګوابښ سره مخامخ شوې وه، نو لارد اکلند چې د غرور له آس څخه راکوز شوی و او په هند کې یې د خلکو د بوخت ساتلو په خاطر یو اعلان خپور کړ، چې په هغه کې به افغانستان کې د انګرېزي پوځ د حالت په هکله داسې لیکلي و: "د افغانستان ګډوډي یوه بله موقع برابره کړه، تر څو چې د انګلستان قوت او د هندیانو زړورتوب ثابت شي."

له بلې خوا لارد اکلند د هندوستان د اردو قوماندان ته خپل وروستی نظر او توصیه د ۱۸۴۲ کال د مارچ په پېنځلسمه داسې ولیکه:

"د کابل د نیولو له پیل څخه په هېواد کې ګډوډي وه. له ۱۸۴۱ څخه وروسته په کابل او کندهار کې دغو ګډوډیو زیاتوالی وموند. دغه انقلاب، چې د خواشینوونکو پېښو او په پای کې د انګرېزانو د وژل کېدو او تباهۍ لامل شوه. دا په واقعیت کې یو داسې له ملامتیې ډك بار دی، چې د هندوستان (یعنې د انګلیس د استعمار په تاریخ) کې ببلګه نه لري. دغو ټولو پېښو د افغانستان د ملت له عمومي مخالفت څخه سرچینه را اخیستې. چې زمونږ په وړاندې یو موټی شول او دغې جګړې د یوې ملي او مذهبي جګړې بڼه غوره

کړا دغه ښځې باید مونږ هرومرو دغې پایلې ته ورسوي، چې که چېرې بیا هم مونږ افغانستان ونیسو. دغه هواد به هېڅکله د یوه لویدیز تیري کوونکي په وړاندې زمونږ ملاتړي نه، بلکې زمونږ د ضعیف کېدو لامل شي. نو د انګلیس د پرمختګ سیاست (فارورډ پالیسي) باید په افغانستان کې ښخي له منځه تللې او رټل شوې وبلل شي. خو اکلنډ له افغانستان سره د جګړې له لامله له دندې څخه لرې شوا و د لندن کابینه پوره کاواکه شوې وه، دا ځکه چې په انګلستان او هندوستان کې په زرګونو هندي او انګلیسي کورنۍ د خپلو مړو په ماتم کې ډوبې شوي. د هند کمپنۍ هم په ویره کې شوه. دا ځکه چې د انګلیس اردو په افغانستان کې ۲۰ میلیونه پونده او ۵۰ زره اوښان د کمپنۍ (ایست هندیا کمپني) له راپور سره سم لا لاسه ورکړي وو، حال دا چې دغه د عسکرو وژل کېدل انګلیسانو او د پارلماني له خبرتیا پرته په سیده توګه د لندن د حکومت له لوري په غلا سره وشوه او اوس نو د هند بیوزله خلک اړ وو، چې دغه ټول ډېر لوړ لګښتونه د پلورونکو مالیاتو ګاللو سره پوره کړي. حال دا، چې مخکې له دې جګړې څخه د افغانستان له لوري هند او انګلیس ته هېڅکله داسې کوم زیان نه و اړول شوی.

په هر حال، اکلنډ په دې لټه کې شو، چې د ډیپلوماسۍ له لارې او له بندي امیر دوست محمد خان څخه په کار اخیستلو سره پاتې لښکر او د انګلستان آبرو لږ څه وساتي. خو امیر دوست محمد خان په کلکته کې نه، بلکې منصوري غرونو (جبال منصوري) کې و. نو ځکه کلکتې هڅې پیل کړې. چې هغه راولي. د فروري په پای کې د هند نوی ګورنر جنرال (لارد ایلنبرو)[1] کلکتې ته را ورسېد او په بېړه یې امیر دوست محمدخان له منصوري څخه کلکتې ته راوغوښت او خبرې-اترې یې ورسره پیل کړې.

## دامیر دوست محمدخان بیا ځلې وراني

د ۱۸۴۲ کال د مارچ په میاشت کې امیر دوست محمد خان کلکتې ته ورسېد. دا هغه مهال و، چې په کابل کې ملي ستر اردو سمبال شوې وه او په افغانستان کې له پاتې انګرېزانو سره د بیا جهاد کولو اعلان شوی و او شاه شجاع هم په ملي لښکرو کې خپل ګډون اعلان کړی و. جنرال ناست په کندهار کې او جنرال سیل په جلال آباد کې ویرېدلي وو او هند ته له ژوندي ستنېدو څخه ناهیلي شوي وو. د انګلیس د له منځه تلو خبر له کابل او جلال آباد څخه د انګلیس حکومت په هند کې لړزولی و او په هند کې انګلیسي پوځ افغانستان ته ننوتل، قبر ته ننوتل بللی و. جنرال پالك په پېښور کې یواځې په ښکاره توګه غوښتل. چې په هند کې خلك (افغانستان باندې د اغیچ اخیستونکي برید) په نوم د انګلیس ستر غواك تر ګوابښ او ویرې لاندې وساتي. حال دا، چې په واقعیت کې دوی د خیبر دره د ښامار خوله بلله او د ګام اخیستو جرات ورته نه و پاتې. په همداسې یو وخت کې امیر دوست محمد خان چې په بند کې د هندوستان د ګرمۍ له لاسه په تنګ راغلی و او د زندان ترخې شپې ورځې یې تیرې کړې وې او په قصدي توګه د افغانستان له ټولو پېښو بې خبره ساتل شوی و. ناڅاپه له ایلنبرو سره مخامخ شو. امیر د

1- Ellenborough

خپلې هیلې برخلاف د هندوستان د حکمران چلند ډېر ښه احساس کړ او هغه ورته لکه د موم په شان نرم او لکه د ورور غوندې مهربان ښکاره شو. لارد امیر ته وویل: د انګلیس دولت حاضر دی، چې خپل بېرته له افغانستان څخه بېرته هند ته راوباسي او تاسې افغانستان ته واستوي او د افغانستان پر تخت مو کېنوي. د انګلیس دولت به وروسته له دې تاسې سره دښمن نه، بلکې دوست به وي. تاسې د انګلیس د دغه چلند په وړاندې څه کوئ؟ البته امیر دوست محمد خان ته د پخواني دښمن دا وړاندیز حیرانوونکی و. نو له هغوی څخه یې مننه وکړه. دې پسې ایلنبرو یو (کوچنی) شرط ورته مخه کې کېښود، چې انګلستان ته ډېر زیات ګټور، خو افغانستان ته ډېر زیات زیانمن و، هغه دا چې:

سردار محمد اکبرخان د انګلیسانو په وړاندې د افغاني ځواکونو په سر کې ولاړ دی، نو امیر باید خپل زوی ته امر وکړي، چې هغه دې له جلال آباد څخه د هندوکش شاته تاشقرغان ته په شا ولاړ شي او د افغاني اردو ټول مشران دې خواره واره شي. دا ځکه چې انګرېزي ځواکونه باید یو ځل له کندهار او پېښور څخه کابل ته لاړ شي او د افغانستان د خلکو له خوا د کوم خنډ اچولو څخه پرته د امپراتوري حیثیت بېرته ترلاسه او انګرېزي بندیان ځان سره را واخلي او پرته له جګړې څخه له افغانستان څخه ووځي. ددې په بدل کې به امیر دوست محمد خان د خپلې کورنۍ له ۱۵۰ تنو سره له هندوستان څخه د افغانستان د تخت او تاج د ترلاسه کولو لپاره ور روان شي. امیر دوست محمد خان، چې هېڅکله د خپل ملت په قوت ډېره نه وه لګولې. دا ځل یې هم د ځپل شوي دښمن غوښتنو ته غاړه کېښوده. حال دا، چې د افغانستان خلکو د ۱۸۴۱ ل د دسمبر د ۱۱مې نېټې په تړون کې د توري په زور د امیر دوست محمد خان او د هغه د کورنۍ بېرته راستنېدل په انګرېزانو باندې منلي وو او اوس یې درې سوه تنه انګرېز بندیان هم په واک کې وو او له دښمن څخه ۴۰ زره مړي د جګړې په ډګر پاتې وو او څو زره نور یې هم په لومه کې نښتي وو، خو امیر دوست محمد خان د ایلنبرو شرط پرته له کوم متقابل شرط څخه ومانه او یو لیک سره د خپلې ځانګړې نښې (عینکې او د نسوارو ډبلې) سره یو ځای یې سردار محمد اکبرخان ته واستول او ده کټ مټ همدا کار د پروان په جګړه کې، چې انګرېزي پوځ بېخي ماتې خوړولو ته نږدې شوی د سردار محمد افضل خان په وړاندې وکړ.

ایلنبرو ډېره په آسانۍ سره د افغانستان له طبقاتي انترستونو څخه کار واخیست، نو د امیر دوست محمد خان په دغه ډول رضایت سره یې په اروپا او آسیا کې خپل بایللی دریځ بیا ترلاسه کړ او خپل سیاسي او نظامي شکست یې جبران کړ کله چې انګرېزانو امیر مطیع شوی ولید، نو هغه یې ورو ورو د انګرېزي دوکه مارۍ دوستۍ په لومه کې راګیر کړ، بیا امر د ژوند تر پایه له دغې لومې څخه ونه وت. له دې څخه وروسته انګرېزانو هڅه وکړه چې د جنرال سیل او وزیر محمد اکبرخان د څو څو ځله خبرو اترو په ترخ کې او د بندي شویو انګرېزانو (پاټنجر او میکنزي او نورو...) په واسطه سردار محمد اکبرخان د پلار د لیکونو په واسطه دې ته اړ کړي، چې د انګرېزانو غوښتنې ته غوږ ونیسي. حال دا، چې محمد اکبرخان، محمد شاه خان او سلطان احمد خان دغه څه نه غوښتل، کوم انګرېزانو هیله درلوده او د کابل رهبران له دغو پېښو څخه نه خبرېدل. سردار محمد اکبرخان او د هغه ملګرو ویل، چې

Scanned by CamScanner

مونږ به اجازه ورکړو، چې انګرېزي ځواکونه له جلال آباد او کندهار څخه روغ ووځي او هند ته ولاړ شي، په دې شرط چې د پېښور خواکونه يې حرکت ونه کړي؟ همدا چې امير دوست محمدخان پېښور ته راورسېد، نو انګرېزي بنديان به ور پربښودل شي، انګرېزانو. چې دا حال ولېد. يو لوی ګوابن يې را ورانډې کړ او د ايلنبرو دغه پيغام يې سردار محمداکبرخان ته واړاوه

که چېرې سردار له دغې روغې-جوړې څخه. چې د وينو بهيدو مخنيوي کوونکې ده او د افغانستان پرېښودل هم پکې راځي او د امير دوست محمدخان په واسطه د افغانستان د تاج او تخت نيول هم پکې شامل دي. مخ واړوي، نو د روغې-جوړې لاره به بېخي بنده شي او امير دوست محمدخان به له ټولې کورنۍ او د محمداکبرخان د ښځې په ګډون له ټولو ښځو سره لندن ته تبعيد شي. بيا نو هلته د انګليس دولت دوی ته د اسلامي مقرراتو تعليمات نشي تضمين کولای او په لندن کې د اسلامي تعليماتو لپاره هېڅ ډول وسايل هم نشته. سردار محمداکبرخان سره له دې. چې له انګليس سره د امير د قرارداد دروندوالی احساس کړ او په هغو زيانونو هم پوهېده کوم. چې ددغه قرارداد له لامله به د افغانستان نوم او نښان ته متوجه شي، خو ديني عاطفې او د پلار په وړاندې د زوی والي دندې هغه خامخا د پلار د خبرې اطاعت کولو ته اړ کړ. نو ځکه يې تصميم ونيو. چې د فاتح ملت فشار د دښمن له پوځ څخه لرې کړي او نوی راتلونکي پوځ ته د راتلو لارې يې پرانيستله. خو دومره يې غوښتل چې د امير دوست محمدخان تر راتګ پورې له ژمني د تيرېدونکي دښمن د اسيرانو سپارل ورته د امير دوست محمد خان او د هغه د کورنۍ تر راتګ پورې وځنډوي. خو سردار محمداکبرخان په آسانۍ سره نشو کولای. چې د پلار امر تطبيق کړي. دا ځکه چې دا خبره د افغانستان د خلکو د غوښتنو برخلاف وه، هغو خلکو چې په نورې سره يې قوي دښمن ځپلی و او مخکې تر دې، چې وزير اکبرخان له بخارا څخه راشي. دوی انګرېزان مات کړي وو او په کلابندۍ کې يې روغې-جوړې ته اړ کړي وو. البته سردار محمداکبرخان کولای شول ورو ورو بېلا بېل ملي رهبران له خپلې دغې نوې مفکورې سره موافق کړي او بيا خلك د هغه باور تر سيورې لاندې دغې نوې طرحې سره موافق کړي، چې دوی په خپلو رهبرانو درلود. د بېلګې په توګه د سردار محمداکبرخان د عصر او زمان يوه تاريخي ليکوال دغه موضوع په لاندې توګه تشريح کړې ده.

'دا خبره، چې وايي له غزني څخه هندوستان ته د سومنات د دروازې وړل او د غزني د کلا نيول او د بنديانو پرېښودل يواځې د سردار محمداکبرخان د سازش له لامله و: سردار محمداکبرخان ده ته په جلال آباد کې د بندي انګرېزانو د ورتګ او د امير دوست محمدخان د ليك له رارسېدو وروسته له انګرېزانو صاحبانو سره سازش وکړ او خپله کابل ته ستون شو او انګليس صاحبانو ته، چې په جلال آباد کې و هغوی ته يې دا وپوهوله. چې که چېرې زه په ښکاره له صاحبانو سره سازش وکړم او د دوی بنديان ور پرېږدم او کابل او غزني هم د دوی واك ته ور پرېږدم خو ځو نورې ستونزې پيدا کېدای شي، چې د هغه مخنيوی او هوارول به ډېر ستونزمن کار وي. لومړی خو به همدغه د کابل ملي رهبران او غازيان زما په وژلو لاس پورې کړي، دوهم دا چې ستاسې بنديان به ټول در ووژني. درېيم دا. چې تاسې به هم يو

ژوندي پاتې نشئ.[١]
سردار محمد اکبر خان د پلار د لیك له اخیستو څخه (په مارچ کې) بیا د اپریل تر میاشتې پورې په خیبر، لغمان او ننګرهار کې د ملي پوځ له رهبرانو، محمدشاه خان، سردار سلطان احمد خان او نورو سره په خبرو-اترو بوخت و. په دغه ټوله موده کې جنرال سیل په کلابندۍ کې و او جنرال پالك له خیبر څخه وړاندې نشو راتلای. همدا چې د اپریل په میاشت کې د سردار موافقه عملاً وښودل شوه. یعنې کله یې چې په خپله له ملي پوځ سره د یو جګړه ییز مانور په ترڅ کې د خرپ او ترپ په تخنیك سره د اپریل په لومړۍ لسیزه کې د جلال آباد لـه لویدیځو مورچلو څخه پیل وکړ او تر لغمان پورې ورسېدلو سردار سلطان احمد خان هم په همداسې کټ مټ حالت سره د خیبر د درې له خولې څخه لغمان ته په شا شو دا مهال ایلنبرو جنرال پالك ته نهه زره عسکر ورکړل او مخ په جلال آباد یې د پرمختګ امر ورته وکړ او ایله. چې جنرال سیل د جلال آباد له کلابندۍ څخه سر را بهر کړ. خو سره لـه دې هم پالك او سیل له اپریل څخه تر اګست پورې څلور میاشتې نور هم له جلال آباد څخه ونه خوځېد او د کابل پېښو ته په تمه شو. په دغه ټوله موده کې د تیرو جګړو ویرې انګرېزان داسې ځای پر ځای ټك وهلي وو، چې یو مخ شیبه هم د خپلو ځواکونو له څارنې او ساتنې څخه فارغ نه و.

سردار محمد اکبر خان د همدې اپریل په میاشت کې انګرېزي بندیان د محمدشاه خان پـه لاس له لغمان څخه کابل ته واستول. کابل ته د انګلیسي بندیانو د تګ پر مهال د اپریل پـه ۲۲مه جنرال الفنسټن مړ شو، چې مړی یې افغانانو جنرال سیل ته ور واستاوه. وزیر اکبر خان د بندیانو په کاروان پسې لاخره جلال آباد پرېښود او کابل ته ورغی. پـه دې توګه لـه جلال آباد څخه ۳۵ زره مجاهدین او ۴۰ زره غلجایي د کابل- جلال آباد له لارې څخه یوې خوا تـه شول او د کابـل لاره د انګلیسانو بېرتـه راتـګ تـه پرانیستل شوه، خو په کابل کې څه وشول:

کله چې زرګونو وسله والو د سیاسنګ په سیمه کې د جلال آباد اسیا د انګرېزي لښکر د لـه منځه وړلو په خاطر د جهاد بیرغونه اوچت کړي وو، د ۱۸۴۲ کال د اپریل پـه څلورمـه یې شاه شجاع لـه بالاحصار څخه راکوز او د کابل په سیاسنګ کې یې د ملي پوځ په سر کې ودراوه تر څو، چې پـه هغـه سبا مخ په جلال آباد ورشي. د شپې له خوا پاچا په پټه بالاحصار ته ختلی و او د یو شمېر شخصي کارونو تر سره کولو وروسته د اپریل په پنځمه د تخت روان په واسطه اردوګاه ته راغی، خو د نواب محمدزمانخان د زوی شجاع الدوله، نور محمد خان او شاغاسي دلاورخان او د هغوی د نور ۲۰ تنه ملګري، چې په کمین کې ورته ناست وو، لارې ته ورته راووتل او پاچا یې په ګولۍ او توره باندې وواژه. دغه خبر ژر په کابل کې خپور شو او نامتو روحاني میر حاجي د خلکو پـه ډلـه کې غږ وکړ، چې: لوی لارد (شاه) له کوچني لارد (مکناټن) سره یو ځای شو. خو یوه غوره مال شاعر (پـه شاه جي سره مشهور غلام محمد درویش) ددغه بدنام او ګنهګار پاچا په مړینه داسې وویل:

طرفـه تـر نقشـه بکابـل شـد خـارج از مرکـز تعقـل شـد

---

١- نوای معارك، و میرزا عطامحمد تألیف د کابل چاپ ۱۳۳۱ش کال ۱۷۷ مخ.

Scanned by CamScanner

ـلطنت زیب شه شجاع الملک — متوکل علی التوکل شد
بامدادان پی غزا بیرون — باتنی چند بی تامل شد
در رهش از قضای ربانی — • قاتلش با کسان مقابل شد
آن سکندر منش فلاطون عقل — بند در مطرح تغافل شد
از قضا و قدر به سمع همه — چونکه پنهان خطاب اقتل شد
پس چنان دست جور بکشودند — که برون از حد تحمل شد
تن سیمین و جسم نازک شاه — از دم تیغ پاره چون گل شد
رفت زین ملک دون به خلد برین — صاحب حشمت و تجمل شد
موی سر کند بسکه اهل حرم — پر سراسر، سر از سنبل شد
از پی جمع مادهٔ تاریخ — صورت عقل محو بالکل شد
هاتفم گفت آه و ناله برآر — شمع دولت بصبحدم گل شد

نواب محمودزمانخان ددې پر ځای، چې جلال آباد ته ولاړ شي، ډېر ژر له سیاسنګ څخه کابل ته راغی او خپله پاچاهي یې اعلان کړه. نایب امین الله خان لوګری، چې یوازې سردار محمداکبرخان د افغانستان د پاچاهي وړ باله، دنواب محمدزمانخان پاچاهي ونه منله، خو د نظم د ساتنې لپاره یې دهستې د شاه شجاع زوی فتح جنګ په بالاحصار کې د پاچا په توګه اعلان کړ، خو نواب محمدزمانخان په خیبر ولاړ و او وسلې ته یې لاس واچاوه. میر حاجي، چې د باچا د کورنۍ کلك مخالف و، د نواب محمدزمانخان پلوي وکړه، په دې توګه د دواړو تر منځ جګړه پیل شوه. په دې توګه د سیاسنګ لښکرکوټ ددې پر ځای چې په دښمن پسې ورشي. کابل ته راغی او یوه کورنۍ جګړه پیل شوه. په عین حال کې نایب امین خان او نواب محمدزمانخان دواړو د محمداکبرخان د راتګ هیله وکړه دا مهال لا محمد اکبرخان په ننګرهار کې له انګرېزانو سره په حساب کتاب بوخت و او کله یې چې د خپل پلار په وینا له جګړې څخه لاس واخیست، د می په څلورمه کابل ته راننه شو او نایب امین الله خان ته یې لیك واستاوه او هغه ته یې پلار ووایه. کله چې سردار کابل ته راورسېد، نو نایب امین الله خان سردار د فتح جنګ د موقتي پاچاهي، د اعلانولو په هکله خپله نقشه سردار ته وویله او بیا یې بالاحصار او د افغانستان وزارت د سردار په واك کې ورکړ او هم یې خپله لور ورته په نکاح کړه، خو محمدزمانخان خپل مقاومت ته دوام ورکړ، تر څو چې د جون په ۲۱مه له ماتې سره مخامخ شو او بې وسلې کړل شو. له هغه وروسته وزیر او نایب فتح جنګ له دندې لرې او بندي یې کړ. دا څکه چې انګرېزانو ته یې سترګې نیولې وې او د دولت چارې د وزیر محمد اکبرخان لاس ته ورغلې. وزیر محمداکبرخان په کابل کې ملي رهبرانو سره خبرې-اترې وکړې او له هغو سره یې د امیردوست محمدخان امر او د راتلونکې نقشه په صادقانه توګه مطرح کړه. دغو رهبرانو چې داډ ترلاسه کړ، چې

Scanned by CamScanner

انګرېزي ځواکونه کابل ته له ننوتو سره سم بېرته وخي او سم له دې سره امیر دوست محمدخان
افغانستان ته راخي. نو د محمداکبرخان نقشې سره چې د ټولو د باور وړ وه. موافقه وشوه او دا پرېکړه
هم وشوه. چې د انګرېزانو د راتګ پر مهال به د کابل او غزني ښارونه تش او ټول جنګیالي به د جلال
آباد او کندهار لارې له هغه ترون سره سم. چې له انګرېزانو سره تر سره شوي دي پرانیستل شي او ملي
مبارزین به له دې پرېکړې خبرېږي. تر څو د هغوی وینې تویې نه کړي. خو که چېرې دښمن له ترون څخه
سرغړونه پیل کړه. نو په یوه عمومي برید سره به ټول له منځه وړل کېږي

وزیر محمداکبرخان د ۱۸۴۲ کال په جولای کې د بختیار خان په رابطه له جنرال پالك سره په جلال آباد
کې خبرې.اترې پیل کړې او د دواړو خواوو د بندیانو د تبادلې او د افغانستان د پرېښودلو په هکله یې
ورسره بحث وکړ او په دې برخه کې یې له هغه څخه لیکلی سند وغوښت خو پالك. چې یو نظامي سړی
و او تر اوسه یې ګوزارونه نه وو خوړلي. دې خبرې ته یې پام ونه کړ وزیر اکبرخان لارډ ایلنبرو ته
موضوع ولیکله. چې له دغه لیوني او جاهل سړي سره خبرې نشي کېدای. تر څو له خپله ده سره خبرې
ونه کړي. په اګست کې سلطان احمدخان ته دنده وسپارل شوه. چې غزني ته ولاړ شي د مجاهدینو له
مشرانو او د غزني له حاکم سردار شمس الدین خان سره د امیر دوست محمدخان د نوي ترون او د
انګرېزانو له خوا د افغانستان د پرېښودلو په هکله خبرې وکړي او د خلکو په مرسته ښار تخلیه او
انګرېزي بندیان کابل ته راولي عملاً کار وشو او سردار شمس الدین خان د مجاهدینو مشران او
داوطلب جنګیالي قانع کړل. چې ښار پرېږدي او له کندهار څخه راغلي لاره پرانیزي وروسته د غزني
ښار پرېښودل شو او انګرېزي بندیان کابل ته راولېږل شول او سردار شمس الدین خان او سردار سلطان
احمدخان هم کابل ته راستانه شول تر دې مهال پورې د کابل ښار هم ۲۰ زره تنو ټنګیالو پرېښی و
وزیراکبرخان د لغمان. غزني او کابل ټول بندیان.چې دری سوه تنه کېدل په بېړه امر سره بامیان ته ولېږل
او صالح محمدخان هغوی د سپتمبر په دریمه بامیان کې ځای پر ځای کړل د اګست په نهمه جنرال نات
او تیمور له کندهار څخه او د اګست په شلمه پالك او سېل له جلال آباد څخه مخ په کابل را روان شول
نات د کندهار حکومت د تیمور په ځای د هغه ورور صفدرجنګ ته ورکړ حال دا. چې صفدرجنګ پخوا
د ملي مبارزینو په صف کې ولاړ و او د ملي مجاهدینو په ډله کې یې انګرېزانو سره جګړه کړې وه
همدا. چې پالك او سېل ګندلك ته را ورسېدل ود رېدل تر څو نات هم کابل ته رالنډ شي او د انګرېزانو
دواړه لښکر یو ځای کابل ته ننوځي بندي شوي فتح جنګ د سپتمبر په لومړۍ نېټه وکولای شول. چې د
کابل د تخلیې پر مهال له کابل څخه وتښتي او د سپتمبر په اوومه په ګندمك کې د پالك اردو سره یو
ځای شو جنرال نات له کندهار څخه تر کلات او غزني پورې پر له پسې اعلانونه کړل. چې د انګلیس
دولت له امیر دوست محمدخان سره د دوستۍ ترون کړی دی او دا دی اوس موږ پرته له جګړې څخه د
کابل له لارې هندوستان ته ځو هغه په دې توګه د اګست په ۲۸مه پرته له شخړو غزني ته راورسېدو او
ښار په بشپړ ډول له ساتونکو څخه تش و. نو دا مهال یوه نامتو انګرېز خټیخ پېژندونکی د راولنسن او
جنرال نات د انګرېزانو د سیاسي سلیقې سره سم د سلطان محمود غزنوي له زیارت څخه یوه لرغوني

Scanned by CamScanner

دروازه را وشکوله او پر یوه اوښ باندې یې وتړله او په بیړه مخ په کابل راغلل. چې د اګست تر دیرشمې پورې میدان پورې راغلل. نور نو پالك هم له ګندمك څخه را روان شوی و او د سپتمبر په یوولسمه نیټه نه راغلی و او کتل یې، چې وزیر اکبرخان دده له مخې د ترپ او خرپ په تکتیك مخ په کوهستان روان دی، نو پالك په بیړه خان کابل ته ورساوه. خو نات له هغه څخه مخکې را رسېدلی و او دواړو له کابل ښار څخه بهر لښکر کوټو ته ودرول. انګرېزي جنرالانو کابل ته له رارسېدو وروسته د کابل ښار ته یوه عسکري قطعه واستوله. د هغه بازار چت یې وسوځاوه. چې هلته د مکناټن مړی خړول شوی و همدا رنګه دوی یو کنډك عسکر د استالف کوچني کلي ته واستول. چې هلته د کوهستان او کوهدامن د ملي مبارزینو د مشرانو قرارګاه وه. له دې لامله چې دا مهال دغه کلی بې دفاع و. وسوځول شو. په دې توګه د انګلسانو په حساب به افغانستان کې د یوه بازار او د یوه کلي سوځولو دانګرېزانو توپکو او میلیون هاوو نغدو پیسو زیان جبران ګڼلای شو. جنرال پالك په اکتوبر کې په کابل کې د لنډ وخت لپاره پاتې شو او په دې مهال کې هغه په خپله عقیده، د افغانستان پاچاهي فتح جنګ ته وسپارله. خو فتح جنګ د افغانستان د خلکو له خوښې پرته پاچاهي نه شوه کولای، نوکله یې چې ولیدل، چې انګرېزان هند ته ځي، نو پاچاهي یې پرېښودله او هند ته روان شو. ناپ ډېرتینګ شو، چې شهزاده شاه پور باید یو څو ورځې پاچاهي ومني. انګرېزانو به بامیان کې هم کله چې له صالح محمدخان څخه بندیان ترلاسه کړل، نو هلته یې شهزاده حیدر سدوزایی د حکومت په چارو کې وګوماره او د جلال آباد چارې یې هم محمدعثمان خان نظام الدوله ته وسپارلې او یو نامعلوم بې هویته مجهول سړي (میان عبدالرحیم) یې هم ورسره وګوماره. دغه ټولې مقررې نمایشي اوظاهري وې. همدا چې انګرېزان له افغانستان څخه ووتل، ټولو دغو ګوډاګیو هند ته مخه کړه او وتښتېدل. جنرال نات. پالك او سیل له خپل لښکر سره په بیړه له کابله ووتل او په بیړه هندوستان ته ولاړل او په ۱۸۴۲ کې د جلال آباد او خیبر له لارې په دې ډول ووتل، چې یوه ګولۍ یې هم د ټوپکو له شپېلو ونه وتله. د افغانستان جنګیالي خو په عین وخت کې سوله خوښوونکو خلکو، چې ولیدل چې انګرېزان افغانستان پرېږدي نور یې توري ته لاس ور نه وړ او لارې یې خپل شوي دښمن ته پرانیستې پرېښودې. وروسته وروسته بیا انګرېزانو په درواغو ویل. چې او په بېلا بېلو جګړو کې یې ډېرې سوبې وګټلې او د پالك لښکر ته یې د (غچ اخیستونکي پوځ) نوم ورکړ. چې دا هر څه د انګرېزانو د ماتې خوړلي او له لاسه وتلي حیثیت او آبرو د بېرته تلافي کولو لپاره و او غوښتل یې نړۍ دوکه کړي او هندوستان ته د انګرېز پرتم ښکاره کړي حال دا، چې تر هر چا مخکې په خپله انګرېزان د افغان او انګلیس د لومړي جنګ په واقعیتونو باندې پوهېدل، نو د انګلیس دغو جعلي نشراتو وکولای شول، چې یو شمېر راتلونکي تاریخ لیکونکي بې لارې کړي او دوی یو له بل څخه مطالب واخلي او دغه جعلیات لا زیات خپاره شي او داسې وانګیرل شي، چې ګوا کې د انګرېزانو بیا ځلې راتګ د وسلې په زور و او د افغانستان د خلکو دفاع یې ماته کړې وه. دا یوازې نه، بلکې لارد ایلنبرو هند ته د پالك د لښکر د بېرته ستنېدلو پر مهال په فیروزپور کې یو تیاترې صحنه جوړه کړه، چې نه یوازې دا چې د هند پر خلکو یې وخندل او بهرنیان یې مسخره کړل، بلکې په

خپله انګریزي لویې خبرې او نامتو خلك یې هم انتقاد ته اړ کړل.
په هر حال. وروسته تر هغه، چې انګریزانو افغانستان پرېښود او له خورد کابل څخه تر جلال آباد پورې د زرګونو انګلیسي افسرانو او عسکرو د مړو له سرونو څخه، چې بې قبر او بې کفن څخه پراته وو، تېر شو، د هغوی ډېر کم شمېر دوستانو یعنې په خپله ملي خائینینو او د دوی افغاني ملګرو یعنې داخلي ګوډاګیانو هم په دې هېواد کې د پاتې کېدو فرصت پیدا نه کړ. په کابل کې حمزه خان غلجایي او عثمان خان له انګریزانو سره د دوستۍ په جرم بندیان شول. نایب محمد شریف خان او جانفشن خان پغماني خلکو د غچ له ویرې وتښتېدل، د جانفشان خان زامن د خلو له توري څخه تېر شول. لا غلام پوپلزایي او محمد عثمان نظام الدوله له لامله سدوزایی او شاه شجاع زامن یوه په بل پسې هندوستان ته لاړل او پناه یې واخیسته. په دې توګه د افغانستان د تاریخ یوه پاڼه، چې د انګرېز دولت په یرغل سره پیل شوې وه. د هغه دولت په نړېدو سره پای ته ورسېده.

## د فیروز پور کمیډي

له افغانستان څخه د انګرېزي پوځ د بېرته راغوښتلو په ترڅ کې لار ایلنبرو په فیروز پور کې یوه پراخه له تشریفاتو ډك د ښه راغلاست میلمستیا جوړه کړه. د هندوستان ټول جوپریان یې له ډولونو او نغارو سره له ۲۵۰ سینګار شویو پیلانو سره را وغوښتل او د هغوی هر کلي ته یې ودرول. په پام کې نیول شوې وه، چې هندي پیلوانان به د پالك په راتګ سره پیلان اړ باسي، چې په خپلو خلتومونو سلام واچو او تعظیم پر ځای کړي، ناځاپه پیلانو دا کار ونه کړ. لارد ایلنبرو ټول هند خلکو او شهزاده ګانو ته اعلان خپور کړ او ویې ویل: "زمونږ سوبمن عسکرو وروسته تر څو سوه کلونو څخه د (سومنات) دروازه چې د افغانستان په لاس باندې د هند د سپکاوي نښه وه، راوړله او دا دی مونږ هغه بېرته تاسې ته سپارو، باید زمونږ او تاسې یووالی د تل لپاره وي..." خو د هند خلکو دغې ننداري ته په خندا او غوسې ځواب ورکړ، دا ځکه چې دوی پوهېدل، چې نه دا پوځ فاتح او سوبمن دی او نه هم دا دروازه د سومنات دروازه ده. د بېلګې په توګه وروسته ددې خبرې له رسوا کېدو څخه د سومنات مصنوعي دروازه په خپله د انګرېزانو په لاس له منځه یووړل شوه او اعلان وشو، چې هغه ورکه شوه. خلك پوهېدل چې د انګرېز حکومت د څلوېښت زره انسانانو د وینو په بیه او میلیونونو روپیو او څلورد کلونو وخت په لګښت سره هغه ملا نصرالدین و. چې بېرته یې له صفر څخه پیل وکړ او صفر ته راورسېد. واقعیت داسې و او د انګلیس هوښیاران هم پوهېدل، چې دغه لښکر راوستل او مالي او ځاني لوی تلفات په افغانستان کې نه یوازې دا چې ګټور نه شول بلکې د انګرېزي دولت په زیان تمام شول. دا ځکه چې د بې پایلو هڅو په ترڅ کې د انګلیس نوم بد شو. د افغانستان پټ چې د انګلیسانو لپاره یې دوستي ډېره ګټوره وه، د انګرېز په دښمنانو بدل شو. افغانستان نور ددغې امپراتورۍ تر مخ خپلې دروازې وتړلې او په ټول ختیځ کې د انګرېزانو پرتم یو عبرت وګرځېد او دغې ماتې یې په ټولو مستعمراتو کې خپور شو.

# شپږم
# افغانستان د ۳۰ کلن اوربند پر مهال
## (۱۸۴۳-۱۸۷۸)

د افغانستان خلکو د انګرېزانو له شړلو وروسته، د یوه مرکزي دولت جوړېدو. د سیاسي یووالي ټینګېدو. د خپلواکۍ د ډاډمن کېدو او د لاسه وتليو سيمو د بېرته ترلاسه کولو لپاره لاره هواره کړه. په تېره بیا دا مهال، چې نور نو رنجیت سنګهـ مړ شوی و او د پنجاب کاواکه دولت نور د افغانستان ختیځو ولایتونه نشول اداره کولای او د انګرېزانو په فشار له افغانستان سره دوستي او روغې-جوړې ته متمایل شوی و. له دغه ډول فرصت څخه استفاده د فعال، صمیمي باخبره او د انقلاب د لارښوونکو لکه وزیر محمد اکبرخان. امین الله خان لوګری. محمد شاه خان غلجایي او دې ته ورته خلکو کار و. خو له بده مرغه داسې ونه شول. خلکو د انقلاب په رهبرانو باور وکړ، د انقلاب رهبرانو په وزیر محمد اکبرخان باور وکړ او وزیرمحمد اکبرخان د کورنۍ او پلار د عاطفي تر اغېزې لاندې راغی، په دې توګه د زرګونو افغانانو د وینو تر نذرانې وروسته یوه ډله تښتیدلي شهزاده ګان او سرداران، چې هېواد یې د جګړو پر مهال پرېښی و او بهرنیو ته یې پناه ور وړې وه، له هندوستان او ایران څخه د کابل په حکومت باندې راتوې شول. امیر دوست محمدخان یو ځل بیا پر تخت کښېناست او سردار کیندل خان او نورو هم د کندهار پر حکومت واکمن شول.

## دامیر دوست محمدخان د سلطنت پر مهال

مخکې تر دې، چې امیر دوست محمد خان له کلکتې څخه افغانستان ته راشي د هند له ګورنر جنرال سره یې په خبرو-اترو کې منلې وه، چې د هرات او کندهار سیمه ییز حکومتونه به د خپل قلمرو له لوري څخه د جلاحکومتونو په توګه پېژني، همدا رنګه ده ژمنه کړې وه، چې پرته له انګرېزانو څخه به نور هېچا سره او بل هېڅ بهرني دولت سره سیده اړیکې ونه لري، خو دا یواځې نه، بلکې کله چې امیر دوست محمدخان په ۱۸۴۳ کې کابل ته راورسېد، د انقلاب رهبران یې چې انګرېزانو د هر یوه د سر په وړاندې جایزې او انعامونه ټاکلي وو. په بېلا بېلو بهو له پښو وغورځول: نایب امین الله خان لوګری، چې د انګرېزانو لومړۍ درجه دښمن و . امیر په حکم د خپلو بې ساري ملي او تاریخي خدمتونو او قربانۍ په بدل کې ونیول شو مال یې لوټ او د بالاحصار په زندان کې بندي شو او وروسته تر ډېرو زیاتو کړاوونو

Scanned by CamScanner

په ۱۸۵۷ کې د ۷۲ کالو په عمر وفات شو. محمدشاه خان غلجایي، هغه سړی چې انګرېزانو ورته الوږ دښمن) وایه، په ۱۸۴۷م. کې د امیر دوست محمدخان د نظامي سوقیاتو له لاملـه برید او لوټ سره مخامخ شو او له خپلې میرمنې او اولادونو سره د لغمان او نورستان تر منځ غرونو ته وتښتي په لغمان کې د هغه د بدیع آباد کلا. چې د انګرېزي بندیانو او برمته شویو کسانو ځای ټاکل شوی و، د امیر په حکم ونړول شوه، وزیر اکبرخان د امیر په دربار کې او د امیر تر نظر لاندې وساتل شو تر څو هېڅ ډول سیاسي یا نظام ګام د انګرېزانو په وړاندې پورته نه کړي، سردار سلطان احمدخان، چې د انګرېزانو د یرغل پر مهال یې له ملي پوځ او ملي مبارزینو او ننګیالیو سره اوږه په اوږه جهاد کړی و، د دولت په چارو کې له کار څخه وشړل شو او کندهار ته واستول شو او په ۱۸۵۵ کې له هغه ځایه د امیر په حکم ایران ته تبعید شو. همدا رنګه ټول ملي رهبران تر څارنې لاندې راوستل شول او ورو ورو یې قصداً او عمداً نوم او نښان ورك کړل شو. آن دا، چې سردار شمس الدین خان، محمدعثمان خان، سردار شجاع الدوله او نواب محمدزمان خان. چې معتدل خلك وو، هم د امیر لـه همدغه ډول بدچلند سره مخامخ شول، ددغه ټولو په ډله کې یواځې یو تن روحاني (میر حاجي د میرواعظ زوی) د امیر خوښ شو او لږ څه آرام پاتې شو.

برعکس امیر ټول هېواد په خپلو زیات شمېر زامنو وایش او په قومي اړیکو پاللو کې یو متل راپیدا شو او ویل به یې:

خدای دې په ملت کې بې قومه، په قوم کې بې وروره او په ورونو کې بې زویه کوه مه. نو امیر دوست محمدخان، چې پـه خپـل قـوم کـې ۲۰ وروڼـه لـرل، ۱۴ ښـځې یـې وکـړې او ۵۲ زامـن او لورګانې او لورګانې یې پیدا شوې. په دوی کې سردار محمداکبرخان د هزاره جات حاکم. سردار محمدافضل خان د زرمت او کتیواز حاکم، سردار شیرعلي خان د کُرمې حاکم. سردار محمداعظم خان د لوګر حاکم، سردار غلام حیدر خان د غزني حاکم، سردار محمدامین خان د کوهستان حاکم، سردار سیف الله د ګرشك حاکم او سردار فتح محمدخان (لمسی) د کلات حاکم وټاکل شول. کله چې شمال ولایتونه هم مرکز پورې وتړل شول، نو سردار محمداکرام خان او بیا ورپسې سردار محمدافضل خان هلته حاکمان وټاکل شول، د تاشقرغان حکومت هم دوو سردارانو محمدامین خان او محمدشریف خان ته ورکړل شول، چې هر یوه په وار سره دوه دوه کالـه وروسته حکومت پکې کاوه. سـردار محمـد اسـلم خـان د آقچي حـاکم او سردارمحمد زمان خان د سرپل حاکم شو. کله چې کندهار او هرات مرکز پورې وتړل شول، هلته هم د امیر زامن سردار غلام حیدر خان، سردار محمدامینخان او سردار شیرعلیخان حاکمان وټاکل شول.

دا یواځې نه، بلکې د افغانستان ډېر کوچنۍ اردو هم د امیر د پېنځو زامنو تر منځ ویشتل شوې وه، دوه پوځونه سردار محمداکبرخان ته، یو سردار شیرعلخان ته یو پوځ سردار محمدامین خان ته او یو بل پوځ سردار محمدشریف خان ته ورکړل شول. نو په دې توګه د ځواکونو تمرکز او د سپه سالار شتون ته اړتیا نه وه، ددغه عسکرو معاشونه د هغو سیمو پـه مالیاتو کې حساب شول کوم، چې د امیر د زامنو په جاګیر او تیول کې وو. د امیر دوست محمدخان د ملوك الطوایفي دغـه سیـستم د میخوانیو ملوك

الطوايفيو په پرتله ډېر بد و. دا ځکه هر شهزاده چې په هره سيمه کې حکمران و، د هغې سيمې ماليات او عايدات يې په خپل تيول او جاګير کې لرل. دوی به د ماليـاتو پـه ټولولـو، د سزاګانو په ورکولو او د بزګران پـه خپـښـناك کـې پـوره واك درلـود او د کـوچني پاچا پـه توګـه پېژندل کېدل. لـه هغوی څخـه د پوهنې کولو هېڅ کـوم مقـام نـه و، پـه دې توګـه ګـواکې افغانستـان وروستـه د انقلاب لـه غـل څخـه پخوانۍ زړې جامې بيـا واغوستلې او شـل کالـه نـور مخ پـه خوړ روان شو. پـه دغـه موده کې د کرنې، صنعت، سوداګرۍ، ودانونو تمدن او کلتور او پرمختګ پـه برخه کې يو ګام هم اوچت نه شو. آن دا چې د اداري لـه پلوه هم حکومـت کـوم جوړښت. قـانون او اداري واحدونـه نـه لـرل. عـدل چـارې د قاضـي او محتسب په لاس کې. ښاري امنيت د کوتوال په لاس کې او مالي چارې د منشي او مستوفي په لاس کې وې. وروسته تر ډېر کلونو څخه د امير دربار يوه شا آغاسي (شېردل خان) او پوځ د يوه جنرال (فرا مرزا خان) لرونکی شو.

د افغانستان سوداګري د امير دوست محمد خان په دوره کې د ابدالي دولت د دورې پـه پرتلـه وروستـه پاتې وه دا ځکه چې د هېواد مساحت ډېر کوچنی شو، يـواځې د افغانستان صادرات هند او روسيې او واردات يې هم لـه هند او روسيې څخه وو او لـه ايران سره ډېره لږ سوداګري وه. دغـو هېوادونـو تـه د افغانستان صادرات وړی، پوستکي، کرك، هراتي کرباس، پوستين، چرې، ختين لوښي، لمڅې او غالۍ، ميوې او دانې، هنګه، آسونه او نورو لـه هند او روسيې څخه فلزات، منسوجات، (تاري، وربښمين او وړين توکران)، چـاقو، عينکـې، چـای، بـوره، ټوپـك او تومـانچې، لـيس او چـورمې او کلاباتون، درمل د ديګ مساله، تنباکو، صندوقونه، چيني لوښي، دوسپنې لوښي، د سرو زرو شګه، کاغذ او کولپونه وو. لـه هند څخه افغانستان تـه د هغو واردتو بيه، چې پـه سيده لارو (پرته د کوچيانو لـه مانونو څخه) پـه کال کې درې نيم ميليونـه روپۍ (چې ۳۵۰ زره پونډه سره برابر و) کېده. د افغانستان د صادراتو بيـه هم څه ناڅه هرومرو وه. البته روسيې د صادراتو بيه د هغوی د وارداتو پـه پرتلـه زياتـه وه.

خو امير دوست محمد خان لـه سوداګرو، پـه تېره لـه بهرنيو سوداګرو سره کلك چلند کاوه. ګمرکي ماليات لـه وارداتو څخه او ترانيزيتي توکيو څخه زيات اخيستل کېدل، ارمني سوداګرو د همدې لوړو او بېلا بېلو مالياتو لـه لامله کابل او خپله سوداګري پرېښوده او د امير کورنۍ پـه خپله هم سوداګري پيل کړه. يو شمېر مهم سوداګر ملا رحيم، غلام قادرخان، بدرالدين نجارايي، ګوبال داس شکارپوري او ناظر خيرو خان او نور و. هغوی چې د امير کورنۍ پورې مربوط و لکه دامير ميرمن بي بي خجو، سردار ولي محمد د بلخ والي او د امير زوی، سردار امير محمدخان د امير ورور، سردار محمدعثمانخان، سردار شادوله خان او سردار عبدالغني خان، چې د امير وريرونه وو. همدوی هم د هېواد لوی څمکوال او سوداګر وو. امير دوست محمد خان، چې هر څه د خپلې کورنۍ لپاره غوښتل پـه دې لټـه کې شو، چې سوداګر ناظر خيرو خـان ولـوټي، خـو هغـه د اميـر لـه منګولـو څخـه د خلاصـون پـه خـاطر بخارا تـه وتښتيد، خو امير نه پرېښود، نو ځکه يې هغه سره خپلوي پيل کړه او لور يې ورته نکاح کړه. ناظر خوښ شو او هيله يې پيدا شوه لـه بخارا څخه د خپل زوم دربار تـه راغی، امير د هغه ټوله شتمني لوټ کړه، نو

Scanned by CamScanner

ناظر هندوستان ته وتښتید

له دې لامله. چې سوداګري ډېره محدوده او تولیداتو بېخي کمښت موندلی و. نو مالیاتو کې هم ډېر زیات کموالی راغلی و. د امیر دوست محمد خان د ټول قلمرو مالیات له اته میلیونه روپیو څخه اضافه کېد. چې په هغو ټولو کې یې یو میلیون روپۍ ګمرکي مالیات وو. دا ځکه چې امیر لکه د سیاسي بهرنیو اړیکو په شان له سوداګریزو هر ډول اړیکو څخه هم پرهیز کړی و. نو په دې توګه د امیر دوست محمد خان یواځې خدمت همدا و. چې په هېواد کې یې په یوه کوچنۍ اداره کې سیاست پروالی رامنځته کړ او بس دا ځکه چې د زمانشاه ابدالي له راپرځېدو او د وزیر فتح خان د وژونو (د امیر دوست محمد خان په ګډون) له واکمن کېدو وروسته. نه یواځې دا چې ختیځ ولایتونه له لاسه ورتلل او سکهه ونیول او جنوبي ولایتونه انګرېزانو ونیول. د افغانستان شمالي او لویدیځ ولایتونه هم د سیمه ییزو حکومتونو په لاس له مرکزي حکومت څخه جلا شول لکه میمنه. هرات. بدخشان. تخار. بلخ او کندهار او خودمختاره بڼه یې نیولې وه امیر دوست محمد خان خپلې ټولې ځل کلنۍ واکمنۍ کې هغه بیا مرکزي دولت پورې وتړل د امیر دوست محمد خان منظم پوځ یوه پېنځه زره کسیزه فرقه وه. چې ۵۰ توپونه او ۲۰۰ زنبورک یې لرل دغه فرقه وروسته بیا د ۱۲۰۰۰ سرتېرو لرونکو شوه. د لښکر سرو پوځیانو د میاشتې نهه پنځې روپۍ معاش درلود او پلیو پوځیانو د میاشتې شپږ کابلۍ نغدي روپۍ اخیستې (هغه مهال د کابل د سپینو زرو یوه پنځه روپۍ شپېته مسي پیسې او خامه روپۍ پنځوس مسي پیسې کېدې د کابل پوخ من اته منه او یو خروار اتیا منه کېدل. خو یو خام من. دوه نیم چارکه او یو خام خروار ۲۲ نیم پاخه منونه کېدل) البته د امیر د نا منظم شمېر ځل زره تنه و په هر حال. وروسته تر هغه. چې امیر دوست محمد خان په ۱۸۴۳ کې د دوهم ځل لپاره پاچا شو. وزیر محمد اکبر خان د پلار اداره ولیده او کنل یې. چې امیر له انګرېزانو څخه کلک ویرېدلی دی او په دې ډول کوم زړور ګام نه شي اوچتولای او ختیځ ولایتونه هم بېرته نشي تر لاسه کولای نو په خپله: یو کېن لاس خواك په توګه د پلار په دربار کې واقع شو او د هېواد وطنپالو او سوبمنو خبرو ددهٔ بر شا و خوا ځای ونیو. وزیر نشو کولای چې نایب امین الله خان وکړي راخلاص کړي. محمدشاه خان غلجایي او سردار سلطان احمد خان او نور مل اتلان امیر له لاسه لرې وساتل یو ځل یې سردار سلطان احمد خان. چې له امیر سره یې دښمني پیل کړه او کابل یې پرېښود او د کندهار له سردارانو سره د امیر په وړاندې لښکر چمتو کړ. له امیر سره یې خلا کړ. وزیر اکبر خان د پلار د قلمرو په تنظیم او پراخولو کې هڅې وکړې او په ۱۸۴۴ کې یې بامیان دایزنګي او دایکندي په ډېرې آرامۍ سره مرکز سره وتړل وزیر د ننګرهار او لغمان: چارو د سمون په نوم. چې په ښکاره ډول سره د هغه په ټیول او جاګیر کې وې د هېواد ختیځ ته سفر وکړ. هلته یې ملي داو طلب پوځ راټول کړ. چې د محمدشاه خان غلجایي او نورو غلجیو له خوا تائید شو وزیر په ښکاره توګه اعلان وکړ. چې د سند تر غاړو پورې به ورځي او د افغانستان ختیځ ولایتونه به نیسي دا ځکه چې هغه کنل. چې سکهه دولت یو طرف د انګرېزانو تر ګوزارونو لاندې نکول شوی دی او دا دی اوس د انګرېزان په دې هڅو کې دي. چې د سند کیڼ اړخ ته ځپل واك راوغځوي. که

چېرې د افغانستان له لوري غفلت وشي. نو انګلیستان له سند څخه راپورې وخي او د سند دا غاړه
خو امیر په بیره د قومي مشرانو په نومونو یو شمېر فرمانونه ولیکل او هغوی یې له وزیر
محمد اکبرخان سره له یو ځای کېدو څخه منع کړل.

وزیر محمد اکبرخان، چې د عقیدې له مخې خان د پلار د امر تابع ګاڼه او په شرعي حساب د پاچا مطیع
و، نو ځکه په ډېر خپګان له ختیځو ولایتونو څخه کابل ته راستون شو. خو لا هم وزګار او لاس تر زنې
نه کېناست، بلکې د هرات حکمدار وزیر یارمحمد خان ته یې یو لیک واستاوه او د هغه له طریقه یې له
ایران سره د دوستانه اړیکو لاره پرانیسته. په پای کې دغه اړیکې ددې لامل شوې، چې وزیر
یارمحمد خان خپله لور (بوبو جانه) وزیر محمد اکبر خان ته په نکاح ورکړه او خپل زوی سعید محمد ته
یې وزیراکبر خان د تره لور په نکاح کړه او دواړه وزیرا وتوانېدل. چې د ایران له قاجاري دولت سره یو
دفاعي تړون لاسلیک کړي. دواړو وزیرانو دا وپتېیله، چې دواړه په ۱۸۴۲ کې له دوو لارو څخه په
کندهار برید کوري او دغه ناکاره ختې حکومت به له منځه وړي تر څو کابل او هرات یو بل سره اړیکې
پیدا کړي. په دې توګه وزیر یارمحمد خان په ګرشك یرغل وکړ او له دې لوري وزیر محمد اکبرخان ځان
چمتو کړ، چې په کندهار ورشي، خو امیر دوست محمد خان له انګرېزانو سره د کندهار د خپلواك
پرېښودلو په ژمنه کلك ولاړ وو، نو د محمد اکبرخان مخه یې ونیوله. نو وزیر یارمحمد خان هم بېرته
هرات ته ستون شو.

په ۱۸۴۲ کې د تګاو خلکو د معاذالله خان صاحبزاده جانان او صاحبزاده فتح خان په مشرۍ د امیر
دوست محمد خان په وړاندې پاڅون وکړ او د امیر پوځ یې د هغه له ورور نواب جبار خان سره یو ځای د
شپې په یو برید کې له ماتې سره مخامخ کړل. خو وزیر محمد اکبرخان په خپله تګاو ته ورغی،
صاحبزاده ګان یې ووژل او مالیات یې وټاکل او بېرته کابل ته راستون شو. په همدې کال کې د ننګرهار
دماماخېلو او اشپان خلکو د امیر په ضد پاڅون وکړ. امیر اړ شو چې وزیر محمد اکبرخان دغه پاڅون
غلي کولو ته واستوي، نو سردار وزیر اکبرخان جلال آباد ته راغی پاڅون کوونکي ډېر په سپېره سینه
غلي کړل او په خپله یې بیا ملا وتړله چې یو څه ځواك برابر کړي او د سند د غاړو افغاني له لاسه وتلې
ولایتونه بېرته ترلاسه کړي، دا ځکه چې پنجاب بېخي کاواکه او د پرځېدو په حال کې و او انګرېزانو
سکهـ ځواکونه تکولي وو، خو امیر دوست محمد خان دا کار نه غوښت، نو ځکه په دې لټه کې شو، چې د
وزیر مخه ونیسي. دا مهال وزیر اکبر خان د ملیریا تبې ونیواو د یوه هندي طبیب په زهرجنو ګولیو په څو شپیو
کې د انګرېزانو په ګټه ووژل شو (د ۱۲۲۳ ق. ژمی - ۱۸۴۲) د وزیر جنازه د کابل له لارې څخه بلخ ته ولېږل شوه
او د مزار شریف په روضه کې خاورو ته وسپارل شوه.

د وزیر محمد اکبرخان په مړینې سره کابل د انقلاب له لویو رهبرانو څخه تش شو. دا ځکه چې میر
مسجدي خان او وزیراکبر خان په زهرو ووژل شول. عبدالله خان په ټوپك وویشتل شو، نایب امین الله خان
لوګرې بندي شو، سردار سلطان احمد خان او یو شمېر نور ملي اتلان له حکومتي چارو وشړل شو. د
وزیر له مړینې وروسته محمد شاه خان هم له امیر څخه جلا شو او په جلال آباد کې یې دهغو ځواکونو په

واسطه چې دوی له انګرېزانو سره د جهاد او د ختیځو ولایتونو د بېرته ترلاسه کولو لپاره چمتو کړي وو. د امیر په ضد پاڅېد. د وزیر مړینې د افغانستان ټول خلک او هر وطنپال هېوادوال غمجن کړ دا ځکه چې ټولو هغه د هېواد د خپلواکۍ د ګټلو ملي هیلو یو مرکز باله نه د هغه پلار. چې تل به د انګرېزانو د تیري پر مهال په شا کېده، په تېره بیا فقط د انګلیس او روس د دولتونو توازن وي او بس چې ددغو دوو هېوادونو ځواکونو هغه د یوه (بفرستیت) په توګه ژوندی ساتلی دی.

یوه انګرېز تاریخ لیکونکی او دیپلومات په خپل یوه نوي کتاب کې د افغانستان په هکله داسې ادعاوې کړي، چې بنسټ یې ټولې هغه د انګرېزانو پخوانۍ لیکنې دي. هغه د افغانانو په هکله داسې وایي "لودیان او ابراهیم لودي د شمال افغانان په تاریخ(؟) کې د غرنیو غلو په توګه ذکر شوي دي.. پښتنو ته ګاونډیانو تل د وحشي خلکو په سترګه کتلي دي... تاجکان ټګان (محیل) او حریص خلک دي په شرافت او سموالي کې یې نیمګړتیا شته.

...ازبکان د لیدر شیپي د صفت نه لرونکي او بې ارادې او بې تصمیم دي، یعنې هغه دوه ځانګړتیاوې، چې یو فاتح (؟) نژاد ورڅخه پېژندل کېږي... متمدن هېوادونه د (انګرېزان) باید نا متمدن هېوادونه. چې خوا ته یې دي (افغانستان) ونیسي او تر خپل واک لاندې یې راولي. که نه په خپله به مضمحل شي:(۱) انګرېزانو ته، چې په انګلیسي هند کې د افغانستان معنوي او تاریخي اغېز ثابت شوی و. نو په هند کې یې ددغې روحیې د ځپلو لپاره د هند په ښوونځیو کې هندي ماشومانو ته داسې تلقین ورکاوه:"... افغانستان د احمدشاه ابدالي تر وخت پورې د مغلو د امپراتورۍ (بابریانو) یو ولایت و، چې د هغو د خپلو شهزادګانو په لاس اداره کېده او بیا وروسته د ایران یوه برخه وګرځېده... احمدشاه ابدالي د لوټ او وژنو لپاره هند ته ننوت او د هندوستان هره برخه کې یې شپږ شپږ ځلې وژنې وکړې. ویې سوځول اور یې ولګاوه او لوټ یې وکړ، په هر ځای کې یې د هندوانو مزدکونه ویجاړ کړل.

غویان یې ووژل او د هندوانو معبدونه یې ککړ کړل، هندي ښځې، ماشومان او نارینه یې د مریانو په توګه ځان سره بوتلل"(۲)

انګرېزان د افغانستان د نامتو څېرو په هکله هم له واقعیت څخه لرې او غیر حقیقي وینا کوي. هر هغه څوک، چې د دوی له ګټو سره برابر او دوی ته د استعمال وړ وي، هغه ستایي او په تاریخ کې یې د یوې بېلګې په توګه جوتوي، خو هغه څېرې، چې د افغانستان د ملي ګټو لپاره ګام اوچتوي او د انګرېزانو د غرضونو مخالف دي، هغوی سپکوي او ناوړه تبلیغ پسې کوي. د بېلګې په توګه د رحمت الله وفادار خان (د زمانشاه وزیر) په هکله، چې دننه یې د دولت د کلکوالي لپاره او په بهر کې یې د هندوستان د آزادولو لپاره کار کاوه، دوی ډېرې بدې لیکنې کړي او د هغه په هکله یې ویلي. چې هغه یو ګمنام او

---

۱- د (افغانستان) کتاب، د کابل په دربار کې په ۱۹۴۱ کې د انګرېزانو مختار وزیر فریزر تتلر تالیف، د لندن چاپ ۱۹۵۰، ۲۷- ۵۵- ۷۲ مخونه.

۲- د هندوستان تاریخو د منځنیو ښوونځیو لپاره، د ای ماربیډن تالیف- بی ای- د لندن د ۱۹۰۱ کال چاپ ۱۳۵- ۲۰۲ مخونه.

Scanned by CamScanner

فاسد پوپلزی و. د شهزاده کامران د وزیر یار محمد خان په هکله، چې د انګرېزانو استازي پاتنجرېي له هغو تولو لګښتونو سره سره، چې کړي یې وو، له هرات څخه وشاړه ویلي وو، چې یار محمد خان یو بد ذاته او بې مایه سړی و، دا څکه چې د موهن لال په وینا. وزیر یار محمد خان په هرات کې انګرېزي میجرتاد[1] او هندي موهن لال ته په یوه غونډه کې وویل، چې تاسې بې عقیدې سپي یاست. مخکې له تاد څخه پوتنجر، چې په هرات کې د انګرېزانو استازی و. هغه وزیر ته وړاندیز کړی و. چې له انګرېزانو سره یو تړون وکړي او پرېږدي. چې دی د هرات په پوځ کې کار وکړي او د هرات پوځ دې د انګرېزانو تر قومندې لاندې وي او دانګرېزانو استازي دې د چارو په نظم کې وګومارل شي او د غوریانو کلا دې هم له ایران څخه بېرته ترلاسه شي. وزیر یارمحمد خان د انګرېز د استازي دغه وړاندیزونه ونه منل. د پوتنجر په ځای میجر تاد په ۱۸۳۹ کې هرات ته راورسېد او د هرات د ټینګولو لپاره یې ډېر لګښت وکړ، خو بیا هم وزیر ددې اجازه ورنه کړه، چې انګرېزان په هرات کې پښه ټینګه کړي. تاد ددې کار په غم کې وکولای شول، چې کامران د وزیر په ضد ولمسوي. همدا رنګه د وزیر د تره زوی دین محمد خان بې هم د هغه په وړاندې ودراوه او په پای کې کامران او دین محمد د وزیر د وژلو په لټه کې شول. وزیر خبر شو او دین محمد خان یې بندي کړ او کامران یې په خپل ځای کېناوه. تاد اړ شو. چې په خپله وزیر ته متوجه شي او هغه انګرېزانو سره موافق کړي. خو وزیر د هغه وړاندیزونه رد کړل او د هغه د فکر ملګري یې ټول له دندو لرې کړل لکه د فیروزالدین لمسی شهزاده یوسف او د هرات قاضي محمد حسن. په دې توګه انګرېزان د وزیر یارمحمد خان خوني دښمنان شول او خپله دغه دښمني یې په تاریخ کې هم ځای او ثبت کړه.

نو څکه ناکام میجر دارسي تاد د وزیر په هکله لیکلي چې: "...له انګرېزانو سره د وزیر ملګري کول ممکن نه ده د هغه د کړو وړ ببلګه د بشر د شیطانیت په تاریخ کې نشته."

دا څکه چې وزیر یارمحمد خان د هرات د ټینګولو او د ایران د جګړې له امله د پښو شویو ویجاړتیاوو د بیا رغولو لپاره د میاشتې ۲۵ زره پونډه د انګلیس له نماینده څخه اخیستل او ددې کار لپاره یې ټول ټال درې میلیونه روپۍ له انګلیسانو څخه ترلاسه کړي، خو ددې اجازه یې ورنه کړه، چې انګلیس د هرات په چارو کې لاسوهنه وکړي او یا هم د هرات او انګلیس تر منځ د ۱۸۳۹ کال د جون جولائ د تړون څخه وروسته چې د هرات خپلواکي یې ډاډمنه کړې وه او په هرات کې یې د انګلیس مداخله بنده کړې وه، د ویښته په اندازه تیری وکړي، آن دا چې کله چې (مت فورډ) له هرات څخه تیریده، نو د وزیر په هکله یې دا ډول اعتراف وکړ: "هېڅ شك نشته، چې یارمحمد خان ډېر پوه او هوښیار دی، خو دده دغه پوهه او ادراك هغه د انګرېزانو د ګټو یو خطرناك دښمن ګرځولی دی. دغه سړی پوهېږي، چې انګرېزانو په هند کې څه کړي او په دې هم پوهېږي، چې د انګرېزانو د دوستۍ او ملاتړ پایله اشغال او نیول دي."

فریر، چې په ۱۸۴۵ کې په هرات کې له وزیر یارمحمد خان او په کندهار کې له سردار کهندل خان سره

---

[1]. E.D. Grey Tolld هغه انګرېزي، چې په درې ژبه پوهېده، ایران ته یې سفر کړی و او په هرات کې د انګرېزانو استازي ټاکل شوی و، خو وزیر یار محمد خان هغه وشاړه

Scanned by CamScanner

لیده کاته کړي وو. د وزیر یارمحمد خان په هکله په ناپیلتوب سره داسې لیکي: "یارمحمد خان یو اوچت سړی او د توندې ځېرې لرونکی دی، خو ویروونکی نه دی. له ورایه ایله د پنځوسو کالو برېښي، حال دا چې شپیته کلن دی. هغه ماته وویل، چې ما خپل ګریوان د ایرانیانو له لاسه خلاص کړ... زه د انګلستانو له نقشې خبر یم او پوهېږم، چې څومره د هغې په عملي کولو کې هڅې کوي... ما داسې ښودله، چې د دوی په لومه کې پریوتی یم، خو په لومه کې یې نه وم... په یارمحمد خان کې له دې څخه لا ډېره زیاته پوهه، استعداد او هوښ شته کوم، چې یو لوی سړي ته په کار ده"(۱)

انګلیستان ددغه وطنپال سیاستوال په وړاندې، چې له افغانستان پرته په بخارا او خیوه کې یې هم د انګرېز د واک او اغېزې په ضد کار کاوه، دومره په غوسه وو، چې مکناټن له کابل څخه اکلند ته یو لیک کې وړاندیز وکړ، چې باید یو پوځ د شاه شجاع په نوم هرات ته واستول شي، خو دا خبره هسې د یوه خیال په توګه پاتې شوه. دا ځکه چې انګرېزان ورځ په ورځ د افغانستان د خلکو د ملي مبارزو په سمندر کې ډوبېدل تر څو، چې بېخي له منځه ولاړل او وزیر یار محمد خان له انګرېز سره د تړون مواد ټول په یو اړخیزه توګه باطل کړل، د هغوی استازي یې له هرات څخه وشړل او انګرېز سره یې خپلې ټولې اړیکې پرې کړې، نو ځکه د انګرېزي لیکوالو د تورونو او کرکې وړ وګرځېد.

د امیر شیرعلیخان په هکله، چې په خپلواک ډول یې له نورو هېوادونو سره اړیکې ټینګې او د هېواد دننه یې د تشکیل، پوځ، فابریکو، جرایدو او کابینې په جوړولو لاس پورې کړ د هند وایسرا لارډ لیټن (د تتلر په وینا) داسې ویلي و: امیرشیرعلي خان یو نیم لیونی وحشي دی. سپه سالار غلام حیدرخان څرخي، چې د وطن د ساتنې لپاره یې پر انګرېزانو توره راوکښله او د انګرېزانو د تیري او د ډیورنډ د کرښې په وړاندې یې مقاومت کاوه، د یو انګرېز تاریخ لیکونکي او سیاستوال (تتلر) له خوا د (څرخي شریرې کورنۍ) په نوم یاد شو. کله چې امیردوست محمدخان په دې لټه کې شو، چې پېښور بېرته ترلاسه کړي او له روسانو سره یې سیاسي اړیکې ټینګې کړې، نو (سرجان کې) د هغه په هکله ولیکل: "دوست محمد خان یو هرزه، بې تعلیمه، بې سواده او تل نشه سپاهي و"(۲)

یوه بل انګرېز ولیکل: "دوست محمد د خیانت، دوکې او توطیې په ښوونځي کې را لوی شوی دی." خو کله چې دوست محمدخان د ملي خپلواکۍ برخلیک، سلطنت او د پېښور بشپړتیا د انګرېز زړه سوي ته ور پرېښودل. بیا نو انګرېزانو د همده په هکله داسې ولیکل:

امیر دوست محمدخان یو خواریکښ، د ښه خوي لرونکی، خلکو ته ګران او ژمنې ته وفادار دی، هغه نور له شراب څښلو لاس اخیستی او قرآن لولي.(۳)

فریزر تتلر هم ولیکل: "امیر دوست محمد خان یو ډېر ښه لیډر، سواره نظام او لکه د خپلې کورنۍ د نورو غړو په شان د نبوغ لرونکی او د یوه اداره، چې د استعداد لرونکی دی... د سدوزیو سرچپه

---

۱- تاریخ روابط سیاسي ایران و انګلیس: د محمود محمود اثر، دوهم ټوک ۳۳۷- ۳۴۲ مخونه.

۲- قاضي عطاءالله، لومړی ټوک، ۲۵۹ مخ.

۳- قاضي عطاءالله، لومړی ټوک ۲۲۰ مخ. له سرجان کې څخه اخیستنه.

Scanned by CamScanner

محمدزيو بو شمېر ډېر ښه واکمن روزلي دي، چې کولای شي هېواد وساتي... انګليسانو د افغانستان خلک د درواغجنو، خاينو او بد قوله په توګه پېژندل، خو د هغوی په واکمنو کې په تيره بيا د پاينده خان په کورنۍ او په بارکزيو کې د شرافت او صداقت يو معيار شته. چې دوی د ډاډ وړ ګرځوي... دوست محمدخان د افغانستان هغه لومړنی واکمن و، چې دا يې ثابته کړه، چې د ټولو ناوړلو ظواهرو او ضعيف کرکتر شاته د بارکزيو د لويو لاربښوونکو په منځ کې د صداقت زړې او د هدف ثبات شته... د دوست محمد خان ژوند ښکاره کوي، چې هغه يو لايق اداره کوونکی او لوی جنتلمن و"[1]

داولې انګرېزانو د يوه سړي په هکله دومره ضد او نقيض او متضاد نظرونه ورکړي دي؟ دا ځکه چې دغه سړي به کله د دوی مخالف او کله موافق و، چې دوست محمدخان همداسې و. د بېلګې په توګه، چې په ۱۸۵۵ کې انګرېزانو د پېښور تړون، د امير له استازي او زوی (غلام حيدرخان) سره لاسليك او د انګرېز دوست او دښمن يې خپل دوست او دښمن وګڼل او بيا يې ورپسې په ۱۸۵۷م. کې په خپله امير دوست محمدخان سره د انګرېزانو په خوله (دوستانه تړون) لاسليك کړ. نو امير ددغه تړون له لاسليك وروسته وويل: "دا دی زه د انګليس حکومت سره يو خای شوم او دغه يووالی به تر مرګ پورې ساتم، که هر څه په مخه راغلل."

نو په دې توګه د انګليسانو قضاوت هم د هغه په هکله ښه شو، فريزر تتلر په دې هکله داسې ليکي: "امير هغه ژمنه، چې د پېښور له تړون څخه وروسته يې کړې وه، ټوله ترسره کړه، د همدې ژمنتيا له امله د ۱۸۵۷ کال په اوړي کې (د هندوستان د انقلاب پر مهال) يې هند له لوی کړکيچ څخه وژغوره. هغه مهال، چې لارنس د خپلو پوځونو وروستي سرتيري ډيلي ته لېږل او (اډوارډ) سرحدات يواځې د خپل ليډر شيپ او کرکتر په ځواك ساتل، يواځې د دوست محمد يوې خبرې او يوه غږ او چتولو په ټول پېښور او ديره جاتو د افغاني قبايلو ولولې پارولې شوې او ټولو پاڅون کاوه او دغه ختيځ ولايتونه ټول بېرته ترلاسه کېدای شول، خو امير دغه يوه کلمه هېڅکله په ژبه رانه وړه"

د امير عبدالرحمن خان په هکله انګرېزان په قضاوت کولو کې په شك کې وو، دا ځکه چې هغه له يوې خوا انګرېزانو سره روغې جوړې او زغم څخه کار اخيست آن دا، چې د هېواد له خپلواکۍ څخه تېر شو او د ډيورنډ کرښه يې ومنله او د هېواد ختيځو ولايتونه يې له چترال څخه تر بلوچستان پورې انګرېزانو ته ور پرېښودل. تتلر په همدې هکله ويلي وو: "امير عبدالرحمن خان خپل رول ښه ولوباوه. هغه څه چې ده بايد په ډېرو ستونزمنو خبرو-اترو کې بايد ترسره کړي وای، هغه يې ډېر ښه درك او په پايله کې پامير څخه تر ايران پورې له سرحدي اوږده کرښه وتاکل شوه او توازن ترلاسه شو او امير آن يو ځل هم د مسئلې د عادلانه حل(!) په لاره کې د انګليسي حکومت د کړنو خنډ نه شو. خو امير هوډ کړی و، چې هېڅکله به پرې نږدي، چې د ملت په سترګو کې په ځرګند ډول د انګرېزانو واك وليدل شي."

خو له بلې خوا اميرعبدالرحمن د افغانستان مرکزي دولت ټينګ کړ او د خپل دريځ د ساتلو په خاطر يې

---

[1]- افغانستان، تتلر ۷۳- ۱۲۵- ۱۲۷ مخونه.

Scanned by CamScanner

په ځرګند ډول د خلکو تر مخې د انګریزانو په ضد خبرې وکړې او په افغانستان کې دننه او آزادو سرحداتو کې یې د انګریز په ضد د جهاد روحیه ژوندۍ وساتله او په کورنیو چارو کې یې انګریزانو ته د لاسوهنې اجازه ورنه کړه او کورنۍ خپلواکي یې وساتله د بېلګې په توګه د حد بخشۍ (د پولو ټاکل) پر مهال یې د روس له دولت سره کله. چې کلنل رجوي انګریز دغه پوله ټاکله او روسیې کمشنر ده ته یو لیک رالیږلی و د هرات والي سعدالدین ته یې دغه لیک په جواب ورکولو کې منع کړ او اخطار یې ورکړ. چې ددغه لیک په خواب کې باید ولیکي. چې په راتلونکي کې دې د امیر له امر سره سم افغاني مامورینو ته لیک نه لیکي. امیر عبدالرحمن خان قاضي ته یو اوږد فرمان واستاوه او امر یې وکړ. چې دغه فرمان دې رجوي ته ورکړل شي. تر څو هغه بنه پوه شي او د انګلیس دولت ته دې هم په دې هکله خبر ورکړي امیر په دغه فرمان کې داسې لیکلي وو.

"... د رجوي په کړو وړو حیران شوم، عاري تجربه نه لري په نړیوالو آدابو نه پوهېږي هغه باید پوه کړم بیا په راتلونکي کې داسې سپک کار ونه کړي. که نه سپکاوي ته به په سپکاوي ځواب ورکړل شي. رجوي باید خپل او د خپل دولت برید وپېژني. باید پاکه خبره وکړم. چې د افغانستان دولت د روسیې او افغانستان تر منځ د پولو په ټاکلو کې د ممیز په توګه ټاکلی دی، نه د واک لرونکي، تر اوسه پورې ددې ولس (افغانستان) خبره تر هغه بریده پورې نه ده رسېدلې. چې د هغه دوه کروړه (شل میلیونه) وګړي د خپل هېواد له ننګ او نام او د خپل دولت له حیثیت څخه تېر شي او د انګلیس دولت سره یې، چې وروسته تر دښمنۍ د خپل امیر په واسطه دوستي پیل کړې ده. غواړي هغوی سره په مساواتو کې چلند ولري. نه دا چې هغوی یې واکمن وي. که چېرې د هندوستان نایب السلطنت په هند کې خپله لومړنۍ غونډه زما د خبرو په هکله خپل دولت ته راپور او خبرتیا نه وي ورکړي. نو ددغې کتنې ګټه دواړو دولتونو ته هېڅ هم نه شوه. ما په ځرګنده ویلي و. چې که چېرې د افغانستان خلکو خپلې ګټې له روسانو سره په دوستۍ کې لیدلي وای. تاسې سره به مو هېڅکله دوستي نه وه کړې، اوس مو چې له تاسې سره دوستي کړې، دا زمونږ د خپلو ګټو لپاره ده. نه دا چې مونږ اړتیا لرله. مونږ هېڅکله د خپل بادار او د خپل واک د لرونکي په توګه نه منو. که نړۍ هم رنګه شي. مونږ خپل شان (پرتم) او وقار تر پښو لاندې کولای نه شو. د ګاونډیو تر منځ سرحدي لیکنې معمول او معقول کار دی. مونږ ځانته همدومره لازمه بللې، چې د بهرنیو چارو مهمې برخې او مهم مسایل پرته د انګلیس د دولت له سلا او مشورې حل او فصل نه کړو، نور کوم قید او شرط او کوم مکلفیت پر مونږ نشته او مونږ خپل ځان په خپل هېواد کې خپلواک ګڼو. مونږ لا تر اوسه د هندوستان د هېواد تر واک لاندې نه یاستو او افغانستان مو په قواله نه دی ورکړی او نه مو پلورلی دی، چې د هندوستان د راجاګانو شعار غوره کړو. پوه نه شولو، چې د کرنیل رجوي د تمیز سترګې څه شي تړلي دي.

د افغانستان خلکو له انګلیسانو سره تر دوستۍ مخکې هغوی سره دښمني وکړه او د انګلیس له زور او دبدبې څخه نه ویرېدل او د روس له دولت سره یې له روغې-جوړې مخکې لاس او ګریوان جګړه وکړه توري یې ووهلې ویې وژل او ووژل شول او د هغه دولت له ستروالي ونه ویرېدل او که هغو سره په

Scanned by CamScanner

ربښتني توګه سوله نه وای شوې، تر اوسه پورې به د زرګونو تنو نورې وينې هم بهيدلې وای (له دې څخه موخه د افغانستان او روسيې تر منځ هغه سرحدي جګړه وه. چې د پل خښتي د سيمې او نبرې پنجده او آق تيپې پرهر شوې وه) نو نن هم هېڅکله مونږ دومره نه يو خوار شوي. چې د رجوي په وينا د روسيې کمشنر ته ليك او سجل ورکړو. چې ګواکې مونږ د هند د دولت تر لاس لاندې يو او خپلو چارو کې واك نه لرو او يا هم د هندوستان د صوبه دارانو يو صوبه اوسو. د روسيې دولت ډېر ښه پوهېږي، چې د افغانستان دولت په خپل نفس کې خپل ذاتي واك او اختيار لري. د افغانستان خلك هم ښه پوهېږي، چې له روسانو سره روغه-جوړه باندې اعتبار نشته.."(۱)

دله و، چې انګليسانو ته په خپل قضاوت کې د امير عبدالرحمن خان معرفي يو نوی فرمول او مرکب تعريف را پيدا کړ. په دې لړ کې يو هم نامتو لارډ کرزن و. چې په خپله د امير عبدالرحمن خان دربار ته ورغلی و. هغه داسې ليکلي دي:"امير عبدالرحمن خان د سياستمدارۍ. ظرافت او حيثيت يو معجون ارګېدوله وه. سره له دې، چې امير دغه د (وحشي توب) اتهام رد او ادعا يې کوله. چې دغه ډول چلند له دغه ډول يوه غدار او خيانت کار قوم سره د معاملې يوازينی لار ده (دلته دده موخه د افغانستان خلك دي)"

همدا رنګه کرزن په کابل کې د يوه ميشت انګرېز له خولې په پوره ډاډ سره ليکي چې: "امير عبدالرحمن خان په خپله ويل، چې هغه د خپل ملت ۱۲۰ زره تنه وژلي دي..."

کرزن دا هم ويلي و، چې: "دغه پاچا به په يو شيبه کې ډېر لوی شخص او وطنپال و، خو بل ځای به يو شرير او د کرکې وړ... بدلون موندونکی مزاج يې و، له هغې ترخې ژبې سره سره، چې درلوده يې په عمومي توګه د انګليس د دولت يو کلکه او پايدونکی دوست و او ددې حق لري، چې د افغانستان په تاريخ کې او د هند د امپراتورۍ په تاريخ کې يې نوم په يوه اوچته درجه کې وليکل شي."(۲)

له همدې لامله و، چې تتلر ليکلي دي چې: " د امير عبدالرحمن خان صفتونه د يوه ستر اداره کوونکي په توګه له روسيې سره د افغانستان د شمالي پولو له ټاکلو وروسته، د انګليس د دولت لپاره ډېر مهم او اوچت ارزښت لري."(۳)

انګرېزانو، چې د خپلو پټو فعاليتونو په ترڅ کې د افغانستان د واحد ملت تر منځ د اختلاف، شقاق او نفاق، لساني، نژادي، سمتي او قبيلوي بېلتون او توپير پيدا کولو هڅه کوله، په دې لړ کې يې د سني او شيعه د مذهب، دري او پښتو ژبې او د نژاد له پلوه د ازبك او هزاره، د قبيلې له پلوه د غلجي او دراني او د سيمې له پلوه يې د کندهار او هراتي او نورو نومونو په واسطه ملت يو د بل بدبين کړ او خلك يې په خپل منځ کې دومره اخته کړل، چې د هېواد عمومي ګټې او د بهرني دښمن ګواښونه يې هېر شول. همدا رنګه انګرېزانو په خپلو مطبوعاتو سره تل په ناسيده توګه د افغانستان پاچايان دې ته اړ

---

۱. سراج التواريخ. فيض محمد، دريم ټوك ۴۸۸ مخ.

۲. Tales of Travels، د لارډ کرزن تاليف، د ۱۹۲۳ کال د لندن چاپ، ۵۱-۵۳ مخونه.

۳. افغانستان تتلر.

Scanned by CamScanner

کول. چې پر ملت باندې فشار راوړي، خلک سپک کړي او په قلم باندې یې د سزا وړ بلل. د بېلګې په توګه د افغانستان د ډېر غوسه ناک پاچا امیر عبدالرحمن خان د سلطنت پر مهال یې لیکلي، چې پر وسپنیز ملت (یعنې افغانستان) ته یو وسپنیز پاچا (یعنې عبدالرحمن خان) په کار دی(۱). همدا رنګه دغه مهال، چې د پکتیا د منګل خلکو د حکومت د غلې او وښو د حوالې له امله تر پوزې رارسېدلي وو، د حکومت په وړاندې یې پاڅون وکړ (۱۳۹۱شمسي- ۱۹۱۳م)، نو امیر حبیب الله خان د خپل پلار د چلند په سرچپه توګه، د بزګرانو د دغه پاڅون په وړاندې له زغم څخه کار واخیست. پرته له دې، چې د پاڅون کوونکو مشران اعدام کړي، د هغوی د زامنو لپاره یې په کابل یو عسکري ښوونځی جوړ کړ. له دې له امله چې دغه چلند د انګرېزانو له خوښې سره برابر نه و، نو ډېر ژر (تایمز آف انډیا) د همدغه کال په اګست کې یوه لمسوونکې مقاله خپره کړه، چې پکې راغلي وو: امیر د ملایانو او خپلو شاو خوا کسانو د لوبې وسیله ګرځېدلی او د منګلو د پاڅون کوونکو په وړاندې یې د دولت ضعف وښود، دا څکه چې په خپل پوخ بې باوره دی او د امیر دغه زغم په ټول افغانستان کې یوه ناوړه پېښه او سؤ تفاهم رامنځته کړي. حال دا چې د خلکو یووالی د امیر د ګټو په ضد(۱) دی. د افغانستان د دربار ژباړونکي هم همدې ډول مقالو ته سترګې په لار وو او ډېر ژر یې وژباړله او د پاچا تر مخې یې کېښوده. انګرېزانو به ددغه ډول لیکنو په خپرولو سره دوه موخې درلودې: یو به یې د افغانستان ملت د خپلو پاچایانو تر کړاو او فشار لاندې راوست او ستړي او زړه ماتي به یې کړل او خپل منځ کې به یې سره واچول او بل دا، چې پاچایان به یې له ملت څخه د ویرې په حال کې ساتل، چې د انګرېزانو په وړاندې روغه جوړه ولري.

له بلې خوا انګرېزانو د نورو داغفال کولو په خاطر، د افغانستان د تحت الحمایه دولت، اداري څخه د یوه فصیح مبلغ په توګه خبرې کولې، تر څو نور هم د انګرېزانو تحت الحمایه والي ته لېوال شي(۱) د بېلګې په توګه په ۱۹۱۳م. کال کې د لندن د آسیایي ټولنې یوه غړي ډاکتر والترسایز افغانستان ته راغی، کله چې بېرته ولاړ ددغې ټولنې په یوه کنفرانس کې یې وویل:

"افغانستان یو ختیځ هېواد نه دی، داځکه چې عبدالرحمن په ځان باندې خوب او خوراك حرام کړي او د افغانستان د ترقۍ پر بنسټ ایښودلو بوخت و. او د اروپا له (ښتینې مدنیت) څخه یې ګټه اوچته کړې ده. همدا رنګه امیرحبیب الله خان هم په خپل هېواد کې د وسلې جوړولو فابریکې جوړې، عسکري منظم کړي، ډېر لومړني، ښوونځي یې جوړ څو اعدادي ښوونځي او دوه پوهنتونونه یې تاسیس کړي دي او له اروپایي ښوونکو څخه استفاده کوي. په کلکته کې یې یوه دارالترجمه جوړه کړې ده. چې کتابونه په پارسي ژباړي او کابل ته یې لېږي. په دې توګه امیر خپل نوم تلپاتې کړی دی. د کرنیز نوي سیستم ماشینونه یې راغوښتي او په قسط سره یې په بزګرانو باندې ویشلي دي. ما په کابل کې د وړې اوبدلو برېښنایي فابریکې، د سان اوبدلو فابریکې، کاغذ جوړول او چارجه آلاتو فابریکې ولیدلې او فکر مې وکړ، چې په سویټزرلنډ کې یم(۱). وروسته تر لسو کالو څخه به افغانستان د ترقۍ او آبادۍ له پلوه له هندوستان څخه مخکې شي. امیر ادیبانو او فضلاوو (علماوو) ته د قدر په سترګه ګوري او هغوی سره لیده کاته کوي، په ټول هېواد کې هر څه د نوي کېدو په حال کې دي او خلك روښانه کېږي، په دې توګه

به غزني یو بل فردوسي یو ځل بیا ومومي(!!!)[1]

سرچپه: کله چې انګرېزان د افغانستان د خلکو په هکله غږېدل، نوله سپکاوي ډک کلمات به یې ددې استعمالول. د بېلګې په توګه د افغانستان له ملت څخه د انګرېزانو ویره او کرکه د نړېوالې لومړنۍ جګړې په ترڅ کې د هند د یوه انګرېز وایسرا له خبرو څخه په ډېر ښه ډول څرګندېږي. دغه وایسرا د ۱۹۱۸م. کال په اپریل کې د هند په جنګي غونډه (د هند شهزاده ګانو او استازیو په مجلس) کې داسې ویلي وو:

له انقلاب څخه وروسته یو بل ډېر غټ ګواښ، چې هندوستان ته پېښ شوی دی، هغه د روسیې له لوري دی. جرمني غواړي، چې د روسیې له جنوب او د ایران له ختیځ څخه را تیر، په افغانستان را واوړي او پر هند باندې برید وکړي. همدا دی د ختیځ خطر، د جرمني د هیئت د استازیو فعالیتونه په منځنۍ آسیا کې پیل شوي دي، خو د هند په شمال کې زمونږ ریښتینی دوست د افغانستان امیرصاحب (حبیب الله خان) لکه د وسپنې د یوه دیوال په شان زمونږ د دښمنانو د جوړ جاړي په وړاندې ولاړ دی او نه پرېږدي، چې د جرمني فعالیتونه د هغه په هېواد کې اغېزه وکړي، خو د افغانستان خلک د عجیبې یوې ځانګړتیا لرونکي خلک دي او د مذهبي لېونتوب له کبله، چې په ختیځ کې یې اغېزل شوي، ډېر ژر به زمونږ د دښمنانو په لیکو کې ورګډ شي، هغه مهال نو د امیرصاحب شخصي ځواک، د افغانستان د خلکو د حرکت مخنیوی نشي کولای، نو ځکه باید مونږ چمتو اوسو، تر څو که د هند په سرحداتو کې دښمنانه خوځښتونه را ولاړېږي، د پیسو او لښکر او سامان په وسیله له امیرصاحب سره مرسته وکړو او هغه به زمونږ د دښمنانو مخه ونیسي..."

په عمومي توګه انګرېزانو هیله درلوده، چې د افغانستان خلکو ته هېڅ ډول نه لاس وهل شوي ویاړونه ور پرېنږدي، نو ځکه یې د دوی هره کارنامه په یوه بله بڼه اړوله. د بېلګې په توګه: کله چې د افغانستان خلکو د افغان- انګلیس په لومړۍ جګړه کې د انګرېزانو لښکر ورمات کړ او د ټول ختیځ لپاره د خپلواکۍ اخیستنې بېلګه وګرځېدل. انګرېزانو داسې ښودله، چې د انګرېزانو په وړاندې د افغانستان د خلکو پاڅون په دې خاطر و، چې انګرېزانو یې په ښځو تیری کړی و. له بده مرغه یو شمېر افغاني مؤرخین او لیکوال لکه فیض محمد کاتب او قاضي عطاءالله خان او یو شمېر نورو د انګرېزانو د دغه جعلي خبرو تر اغېزې لاندې راغلي او د موهن لال په شان خلکو لیکنې ورته حقایق بل ډول ښودلي او یو له بل څخه یې کاذبانه روایات رانقل کړي دي او د پلانۍ ښځې په هکله او د پلانۍ وینځې د تېښتې په هکله او داسې نور یې را اخیستي دي. په دغه ځای کې باید تاریخ لوستونکي په ډېر احتیاط سره دقت او تمیز وکړي، دا ځکه چې انګرېزانو په ډېر غور سره خپل وضعیت د افغانانو په وړاندې کنټرول کاوه. دوی افغاني جامې اغوستې او لونګۍ یې تړله او په څرګند ډول یې تقوا هم ښودله او چلم ته به یې هم کش ورکاوه.

انګرېزانو د ملي مشرانو ویاړ هم تر پردې لاندې راوست، دبېلګې په توګه د افغانستان د هغو ملي

---

۱. سراج الاخبار- دوهم کال. لومړۍ ګڼه، د کابل چاپ.

Scanned by CamScanner

رهبرانو په هکله، چې ځانونه یې د هېواد د خپلواکي د ساتنې په لاره کې ځار کړل وایي چې دغه ځان ځارول ځکه وو، چې شاه شجاع او مکناټن د دوی د تبعید امر ورکړی و. چې هندوستان ته یې واستوي کله چې د افغانستان خلکو د افغان- انګلیس په دوهم جنګ کې انګرېزي لښکرو ته ماتې ورکړه. نو انګرېزانو ویل، چې دا یو مذهبي لېونتوب و. کله چې د انګرېزانو پوځونه په میوند کې له منځه ولاړل. بیا انګرېزانو ویل، چې سردار محمد ایوب خان له هرات څخه انګرېزانو ته لیک کې لیکلي وو. چې که چېرې کندهار انګرېزان هغه ته ور وبخښي.نو سردار به د انګرېزانو په چوپړ کې وي. نو انګرېزانو دا کار ونه کړ. د انګرېزانو په وړاندې یې سرتیري راوستل او د میوند پېښه وشوه. حال دا. چې کله به که په هند کې دغه سردار انګرېزانو ته په لاس ورکولو اړ شو. نو وروسته تر لاس ورکولو به یې خپل لاسونه مینځل او افغانانو ته به یې ویل هغه لاس. چې دښمن ته ورکول شوی وي باید پاك شي.
همدا رنګه کله، چې د افغان-انګلیس له درېیمې جګړې څخه وروسته د افغانستان خپلواکي اعلان شوه. انګرېزانو وویل، چې دغه خپلواکي ځکه اعلان شوه. چې امیر امان الله خان د خپل تره نایب السلطنة او مشر ورور معین السلطنة د شته والي په صورت کې د پاچاهۍ مستحق نه و. نو ددې لپاره چې د خلکو او د افغانستان د اردو فکر د خپل نه مستحق والي څخه بلې خوا ته واړوي. نو انګرېزانو سره د جګړې او خپلواکۍ اعلانول یې رامنځته کړل. یعنې د انګرېزانو په فکر که چېرې امان الله خان کاکا او له ځان څخه مشر ورورنه درلودای. نو اصلاً به د افغانستان ملت خپلواکي نه غوښته(!) خو ددې سرچپه نامتو ستالین دغه تاریخي واقعیت داسې تعبیر کړی و:
"... د امپریالیزم د فشار په شرایطو کې د ملي غورځنګ د انقلابي اړخ غوښتنه همدا ده، چې په غورځنګ کې دې پرولتاریایي (کارګري) عناصر موجود وي او غورځنګ دې په دیموکراسي ولاړ او جمهوري خواهانه او انقلابي پروګرام لرونکي وي. د افغانستان د خپلواکۍ لپاره د افغان امیر (امان الله خان) مبارزه د سلطنت غوښتنې او د نوموړي د اعوانو او انصارو له نظریې سره سم، له عیني پلوه یوه انقلابي مبارزه وه، دا ځکه چې دغې مبارزې امپریالیزم ضعیف کړ او د هغه ځواکونه یې تجزیه او وپاشل او له ریښې څخه یې کاواکه او سست کړ، په داسې حال کې، چې د دیموکراتانو سوسیالستانو انقلابیونو او جمهوري غوښتونکو مبارزه لکه د کرسنکي او تسر تلي رنودل او سیدمان، چرنوف اودان،هندرسن او کلاینس مبارزې د امپریالیستي جګړې په ترخ کې ارتجاعي مبارزې وې، دا ځکه چې د هغو به پایله کې په امپریالیزم ورباندې بریالي کېد او غلبه او کلکوالی به یې موند. د مصر د خپلواکۍ لپاره د مصر د بورژوازي، روشنفکرانو او سوداګرو مبارزه هم همداسې یوه انقلابي مبارزه ده سره له دې، چې د مصر د ملي غورځنګ لارښوونکي د بورژوازي طبقې او د بورواژي د نوم لرونکي دي او د سوسیالیزم مخالف دي، په داسې حال کې. چې انګلستان د (کارګرې) حکومت مبارزه د مصر د ناخپلواکه وضعیت د ساتلو په موخه د هماغه پورتني لامل له مخې ارتجاعي مبارزه ده، سره له دې چې ددغه حکومت غړي د پرولتاریایي اصل او نسب او پرولتاریایي نوم لرونکی دي او د سوسیالیزم

Scanned by CamScanner

پهلوانان) هم دي."(۱)

په هر حال، انګرېزان د افغانستان له خلکو څخه په دغومره ویره او کرکه کې د سلو کالو په ترڅ کې خپلو سیاسي او نظامي بریدونو او پروپاکند ته دوام ورکړ. د دغو بریدونو او یرغلونو اغېزه دومره ژوره او زیانه وه، چې افغانستان تر نن ورځې پورې خپله حقیقي څېره بیا ونه موندله او د تبلیغاتو د دغې پرېړې پردې تر شا لا اوس هم نړۍ په هغې حقیقي معنا ونه پېژاند. آن دا، چې زیات شمېر ګاونډیو لیکوالو، چې موږ سره ګډ دوه- درې زره کلن تاریخ لري هم د انګرېزانو تر اغېزې لاندې خپل اصالت، تفکر او تحقیق له لاسه ورکړی دی. د مقلد بڼه یې غوره کړې او د انګرېزانو د استعماري سترګیو له شا څخه افغانستان ته ګوري او ځینې وخت د دوی لیکوال په پردۍ ژبه او د تاریخي حقایقو خلاف خبرې کوي، د بېلګې په توګه:

یو ایراني لیکوال او سیاستوال (مرزا سید فهدي فرخ)، چې په خپله په افغانستان کې د ایران وزیر مختار و (د شاه امان الله خان په وروستیو کې) له انګرېزانو څخه په تقلید کې د افغانستان د سیاسي تاریخ په نوم یو کتاب لیکلی دی او په خپل دغه اثر کې یې داسې لیکلي دي: "... افغانستان له نادرشاه خراساني څخه مخکې د کوم خپلواک تاریخ لرونکی نه دی. دا ځکه چې د دغې سیمې تاریخ یا د هندوستان د پاچاهانو د سلسلې او یا هم د ایران د سلطنت یوه برخه بلل شوی دی. د دغه هېواد خپلواک تاریخ له ۱۱۲۰ هـ (۱۷۴۷ م.) څخه، چې احمد خان دراني کندهار ونیو او یو خپلواک حکومت یې پکې جوړ کړ، را پیل کېږي... په تېره بیا د ژمني تر پښو لاندې کول د افغانانو یوه ځانګړتیا او دوه مخیزوالی، هیله او روح او خیانت یې په ټول تاریخ کې یو صفت بلل کېږي هغه څه، چې په دغه تاریخ کې موږ ایرانیانو ته ښه بېلګه او تجربه کېدای شي، هغه د افغانانو د دغې روحیې نه هېرول دي، چې په بروړاندې او د زړه په قوت سره باید ډاډه اوسو، چې افغان ملت او دولت عموماً او افاغنه بې له استثنا مرګه، چې وایي هغه دروغ دي. په هېڅ ډول ژمنه، قسم او قرآن په مهر کولو ژمن نه دی او باور وربانديې نشي کېدای. افغانان فقط باید وویرول شي."(۲)

بې له ځکه، چې آقای مهدي فرخ د ایران په هکله د اروپا د ښکېلاکګرو لیکوالو آثار لوستي دي او له هغو څخه اغېزمن شوي او دغه اغېزې یې په ناشعوري او ناځان خبرې او په سرچپه توګه له ځان څخه څرګنده کړې ده... د بېلګې په توګه انګلیس لارډ کرزن ایران داسې تعریف کړی دی:

"... ایراني سرشت بېلابېلې بڼې څرګندوي، چې په نوره نړۍ کې لږ لیدل کېږي. ایرانیان محبوب او مؤدب نژاد دي... له بلې خوا ریاکار او فاسد دي، جرئت او استقامت نه لري. دوی په اخلاقو او صفتونو کې له هغو ملتونو سره، چې د دوی په شا و خوا کې دي هېڅ ورته والی نه لري، دوی هېڅکله لکه د کردانو په شان ظالم او وینه څښونکي، لکه د افغانانو په شان عبوس او کینه کښ، تر کانو غوندې مغرور او خودخواه او هندیانو غوندې سست او لاابالي ((بلا پسې)) نه دي... ایراني ممتاز اخلاق او صفت

---

۱. د (مسایل لنینیزم) کتاب، د ستالین اثر، د مسکو چاپ، ۱۹۴۹ م. کال ۸۹- ۹۰ مخونه.

۲. د (نظری به مشرق) کتاب، لومړی ټوک، تاریخ سیاسی افغانستان، د سید مهدي فرخ لیکنه- د ایران چاپ ۱۳۱۴ ش کال.

Scanned by CamScanner

لري او په مجموع کې د لویو او نیکو. صفتونو څخه بې برخې دي... فقط هغوی په همدا یو مضمو
یادېدای شي، چې هغه دروغ ویل دي... زه ډاډه یم. چې یو صحیح الاصل ایرانی د رښتیا ویلو په پرتله د دروغ
ویلو ته ډېر لېوال دی، که چېرې تصادفاً کوم تکی رښتیا یې له خولې څخه ووځي، نو احساسات یې هغه یو ډ
وخت رټي او په کړاو کې اخته کوي...(١)

هېڅ شك نشته که چېرې انګلیسي لارد د ایران د حاکمه طبقې په هکله دا ډول قضاوت کړی، وای، د ډېر ناوړه نه وه، خو هغه د ایران د شریف ملت په هکله دا قضاوت کړی دی.

په هر حال، د ایران د نولسمې پېړۍ د تاریخ مطالعه، چې د ایران د حاکمې طبقې له شکستونو او فساد څخه ډك دي، په یو شمېر ایراني لیکوالو کې یو شمېر ګرومونه پیدا کړي دي، چې د هغو د پرانیستو لپاره یې له هېڅ ډول غبرګون ښودلو څخه ډډه نه ده کړې، د روحي ګروم د پرانیستو یوه آسانه لار د خیالاتو په سمندر کې ډوبېدل دي. چې د مهدي فرخ په شان ځینې آقایان همداسې کوي او د خیال په نړۍ کې یې قلمي سوبې کړې دي او ایران ته یې یوه غیر واقعي سیاسي نړۍ جوړه کړې ده. دوی ډېر عجیب نظر په را پیدا کولو سره نور ملتونه او د منځنۍ آسیا هېوادونه آن له سیاسي نظره ورك ګڼلي او ددغو ټولو پر ځای یې یو هېواد او یو سیاسي تاریخ په پام کې نیولی دی، چې هغه اوسنی ایران دی حال دا، چې د منځنۍ آسیا د بېلا بېلو هېوادونو خلکو په ګډه سره ددغې ټولې سیمې تاریخ جوړ کړی دی. ددغه تمدن او تاریخ ځانګړې کول یوازې یوه هېواد ته نه یوازې دا، چې ناسم کار دی، بلکې برا ټوکه ده سره له دې، که چېرې په دغه مغلطه باندې د ژبو، غرونو او نژادونو نوم هم اېښودل شوی وي او د کوچني ایران او لوی ایران په نومونو یو نوی مولود جوړ کړل شي.

البته د آقای مهدي فرخ ددغه ایراني لیکوال او سیاستوال دغه تعصب (چې غواړي په ناسمه توګه د ایران د ملت استازیتوب وکړي)، د هغه د تاریخي معلوماتو د کمښت له له امله او زیاتره د هغه د ملي درواغجن تعصب له لامله ده. حال دا، چې هغه نشي کولای، چې د یو هېواد د تمدن او فرهنګ تاریخ او د سیاسي تاریخ تر منځ توپیر وکړي. همدا رنګه د یوه حکومت د ګوتو په شمار ښارو او د یو عظیم ملت د خلکو تر منځ هم توپیر نشي کولای. دا ځکه چې هغه د ایران تاریخ په مجزا ډول او د ګاوندیانو له تاریخي جریانانو او د سیمې له آفاقي تاریخ څخه په جلا توګه او په یوه محلي بڼه مطالعه کوي هغه ایران د ټولې پراخه آسیا د تاریخ محور بولي. په دې توګه د ټولې منځنۍ آسیا د تاریخ په هکله د هغه نظر د یوې تیروتنې او سفسطې بڼه خپلوي. بیا هم که چېرې د یوه هېواد واکمن کېدل په بل باندې په غلط سره د نیول شوي هېواد د تاریخ محوه کېدل وبلل شي، بیا هم ګورو، چې د ګاونډیو هېوادونو پر بل باندې د واکمن کېدلو جریان کې افغانستان د یفلتیانو له مهاله تر طاهري صفار، غزنوي، تیموري او هوتکي دورې پورې د پېړیو پېړیو په ترڅ کې پر ایران واکمن و یا یې د هغه یوه برخه باندې حاکم و، نو آیا دا به د ایران د تاریخ محوه کېدل نه وي، لکه هماغسې چې د هخامنشیانو، ساسانیانو، مغلو او صفویانو واك به پر افغانستان، آیا د افغانستان د تاریخ د محوه کېدو په معنا وي؟

١- تاریخ روابط سیاسي ایران و انګلیس. د ایراني مؤرخ محمود- محمود تالیف د تهران چاپ- پېنځم ټوك ١۴٧۴ مخ

Scanned by CamScanner

په کابل کې د ایران د سفیر مهدي فرخ له شتوالي سره په یو مهال یو بل بهرنی سفیر[1] هم د افغانستان په هکله یو کتاب لیکلی. چې (په افغانستان کې د آلمان د سفیر په توګه) په نوم په برلین کې چاپ شوی دی، خو هغه د افغانستان د ملت په هکله داسې ویلي دي:

"... افغانان له موږ جرمنیانو، سره ورته دي او کټ مټ هماغه صفتونه لري، چې موږ یې لرو ... د افغانستان د خلکو مینه له ملي ارزښتونو، آزادي او خپلواکۍ سره ډېره زیاته ده، نو ځکه دغې مینې د دوی د هېواد استقلال ډاډمن کړی دی. د افغانستان آزاد سرحدات لا اوس هم له استعمار سره جګړه کوي، چې دا په خپله د افغانستان د ملت شهامت او زړورتیا څرګندوي... (په افغانستان کې د انګرېزانو د استازي کیوناري د وژل کېدو په هکله لیکي:) د ۱۸۷۹م. کال په سپتمبر کې افغاني لښکرو کیوناري او د هغه د سفارت غړي په کابل کې ووژل، دا ځکه چې هغه غوښتل، چې د ګندمک له شرمه ډک تړون په افغان زړور ملت باندې وتپي، نو په دې توګه انګلیس په افغانستان کې د خپلې پراختیا غوښتنې غبرګون په ډېر فجیع شکل سره ولید... انګلیس په دې باندې وپوهېده، چې د افغانستان پر وسپنیز ملت باندې بری څه آسانه کار نه دی، د هغه هر ډول اقدام په دغه برخه کې له ناکامۍ سره مخامخ کېږي...

په داسې حال کې، چې افغانان د روغې-جوړې د اړیکو په ساتلو سره له بهرنیو هېوادونو سره نړېوالو قوانینو ته پوره درناوی کوي او خپل دسپلین او ښه نظم ثابتوي. دوی آن د خپل کورنۍ اړ-دوړ او د سټو د زوی د اغتشاش پر مهال) په ترڅ کې هم نړېوالو قوانینو ته درناوی درلود او د انګرېزانو استازیو ته یې هم کومه ستونزه راولاړه نه کړه."

د انګلیسي آثارو ناوړه اغېزه او تلقین د افغانستان پر ګاونډیو دومره زیاته وه، چې نه یواځې د مهدي په شان خلکو، بلکې د هندوستان په یو شمېر با تجربه او پوهو خلکو باندې یې هم تاثیر کړی و او کله نا کله به په ځان ناخبرې توګه له دوی څخه دغه اثرات ښکاره کېدل. په دې کې یو هم جواهر لال نهرو دی، چې د خپل یو کتاب (د نړۍ تاریخ ته یوه کتنه) په درېیم ټوک کې د افغانستان په هکله په غیر شعوري ډول داسې لیکي:

"د افغانستان تاریخ تقریباً د هندوستان د تاریخ یوه برخه ده، دا ځکه چې افغانستان عملاً یوه زیاته موده د هندوستان یوه برخه وه..."

البته هغو کسانو، چې د افغانستان په هکله یې کوم خاص غرض نه درلود، او یا یې د انګلیسي تبلیغي لیکنو په پرتله اوچت علمي دریځ او لوړه جهان بیني او علمي ماهیت درلود، افغانستان تر انګرېزي مقلدانو ډېر ښه پېژندلی دی، د بېلګې په توګه د جواهر لال نهرو یو هم مهالی فرانسوي لرغونپېژندونکی (پروفېسر شلوم برژه) چې د یوه سیاستوال په پرتله ددغه ډول تاریخي مسایلو په اړه د نظر او قضاوت اوچت صلاحیت لري، په ۱۹۲۱م. (د ۱۳۴۰ش کال د تلې په میاشت) کې د یوه علمي کنفرانس په ترڅ کې د افغانستان د تاریخ په هکله داسې وویل: "... افغانستان د هخامنشي دوران په

۱. هر سیمکه کوت Zimke Cort په کابل کې د جرمني وزیر مختار (له ۱۹۳۳ څخه وروسته).

ترڅ کې د سیاسي تشکیلاتو او ملکي ویش لرونکی شو... یونانیان په افغانستان کې د دغو خلکو د مذهب، عقایدو او کلتور تر اغېزې لاندې راغلل او له یونان څخه را جلا شول... د هلنستیك له پېر څخه وروسته افغانستان لکه د پارس او چیني ترکستان په شان د نړۍ د یوې مهمې سوداګریزې لارې (د وربښمو لار) باندې واقع و... د مغلو تالان (د یار لسمه پېړۍ کې) دغه هېواد (افغانستان) چې د اسلامي مدنیت په تر ټولو لوړه پوړۍ کې و او د البیروني او ابن سینا او فردوسي نوموړنه د دغه پېر نښې وې، بېخي ویجاړ او نشت سره برابر شو... تیموري رنسانس، چې د پنځلسمې پېړۍ د نسبي امنیت په دوره کې راغی، بیا دا زمینه یې برابره کړه، چې هرات وکولای شي خپل آرت او هنر کې مشهور شي... د تیمور له دورې څخه وروسته بابریانو او صفویانو افغانستان تجزیه او تقسیم او ټوټه ټوټه کړ. افغانستان ته له دوی څخه پرته له نظامي کلاوو او جنګي وسایلو او سوق الجیش څخه نور څه پاتې نه شول... په اتلسمه پېړۍ کې د افغانستان بیا په پښو درېدل، د زښت ډېر درناوي وړ او یو ستر کار و.

شلم برژه په هندوستان کې د افغانستان د دولتونو د اغېزې په هکله داسې وویل:

"... د باختر یونانیانو د هندوستان د شمالي برخې ونیولې. د افغانستان کوشاني دولت تر مرکزي هندوستان پورې وړاندې تللی و او آن د ګنګا غاړې یې ونیولې وې. د افغانستان غزنوي دولت د هندوستان هېواد د خپل قلمرو یوه برخه وګرځوله او په پنجاب کې لاهور د غزنویانو وروستی پلازمېنه وه. د افغانستان غوري دولت په ډیلي کې قطب مینار (د قطب څلی) هسك کړ. یعنې د افغانستان یونانو باختري دولتونو کوشانیانو، غزنوي او غوري دولتونو ټولو هندوستان په واك کې درلود.(۱)

د غوریانو د دولت له مهال څخه پرته په هندوستان کې د بابریانو تر مهال پورې، له درې سوه کالو څخه زیات افغاني غوري، خلجي، تغلق، سوري، لودي او نور دولتونه پر هندوستان باندې واکمن وو. همدا رنګه هندوستان د غزنویانو له دورې څخه د اسلامي تمدن او کلتور تر اغېزې لاندې و.

همدا رنګه نامتو فریدریك انګلس په ۱۸۵۷ کې د (افغانستان) تر عنوان لاندې په خپله یوه مقاله کې لیکلي و: افغانستان په آسیا کې د هند شمال ته یو پراخه هېواد دی، چې د هندوکش د هند د سمندر او ایران او هند تر منځ پروت دی. په لرغونو وختونو کې د ایراني خراسان سیمه، کوهستان، هرات، بلوچستان، کشمیر، سند او د پنجاب ډېرې برخې افغانستان شمېرل کېدې... افغانان زړور، با انرژي او آزادي خوښوونکي خلك دي...

افغانان درانه خلك دي. که خوني دښمن یې هم میلمه شي، دښمن په خپل ځان او مال د نورو له تېري او ګواښ څخه ساتي... انګلیس د احمدشاه ابدالي په هکله وایي، چې له خراسان څخه تر ډیلي پورې د هغه تر واکمنۍ لاندې سیمه وه، نو د هغه له سوله ییز چلند څخه لرې خبره نه ده، هغوی یو شاعر او مؤرخ هم و..."

په افغانستان باندې د انګرېزانو د برید په هکله لیکي: په ۱۸۴۲ کې وروسته تر جګړې څخه انګرېزانو د تسلیمۍ تړون ورسره لاسلیك کړ او د هغې له مخې یې خپله شته، وسله او توپچي افغانانو ته ور

۱- د پروفېسر شلوم د دغه کنفرانس ژباړه په ۱۳۴۰ ش کال کې د آریانا د مجلې په ۱۰-۱۱ ګڼو کې په کابل کې خپره شوې ده.

تسلیم کړه... په کابل کې د انګرېزانو د اردو ستونزه لکه په مسکو کې د ناپلیون د ستونزې په شان وه. په پای کې یو اځې یو تن ډاکتر برایدن جلال آباد ته ورسېد..."(۱)

کارل مارکس "د هند تاریخ په هکله یادښت" کتاب کې هم دغه پېښه په لاندې توګه انځوروي:

"ساتونکو د جلال آباد له دیوالونو څخه یو سړی ولید، چې په څېرې څېرې انګرېزي رسمي جامو کې په بره ډنګر آس باندې سپور دی. سپور او آس دواړه کلک کلک ټپیان وو. دا ډاکتر برایدن و او هغه یوازینی انګرېز و، چې د پېنځلس زره انګرېزي لښکر څخه، چې درې اونۍ وړاندې کابل ته ورغلي وو، جلال آباد ته بېرته راورسېد."

په هر حال د انګلستان یرغلیز سیاست، چې د افغانستان په وړاندې د اتلسمې پېړۍ له پیل څخه د شلمې پېړۍ تر نیمایي پورې په بېلا بېلو بڼو دوام درلود او د افغانستان د پرمختګ په لاره کې خنډ ګرځېدلی و، هېڅ امکان نه لري، چې تر پېړیو پېړیو پورې یې د افغانستان د خلکو په زړه او دماغ ژوره اغېزه نه وي کړې، دا ځکه چې د بشري ټولنو او ملتونو حافظه په خپله هغه تاریخ دی، چې هېڅ ډول خیانت نه هیروي او نه یې بخښي، لکه هماغسې چې هېڅ احسان او مرسته هم نه هیروي. افغاني سید جمال الدین د افغانستان د خلکو په ذهنونو کې د انګلیس د چلند د اغېزو شدت په دې ډول رانغاړي: "له انګلیس سره دښمني په عمومي توګه د افغانستان د ملت په رګونو او شریانونو کې بهېږي او د هغوی په وینه کې اغړل شوې ده."

آیا د افغان او انګلیس ملتونو تر منځ د دښمنۍ او کینې د تولید مسئول څوک دی؟ فریزر تټلر داسې ځواب ورکوي: "وروسته تر هغه، چې په ۱۸۴۲م. کال کې انګرېزي پوځ له افغانستان څخه وایستل شو، شاته یې داسې ټپونه پرېښودل، چې تر پنځوسو نورو کلونو پورې هم تازه وو او هېڅکله دغه ټپونه بشپړ روغ نه شول... د افغان-انګلیس د لومړۍ جګړې په شان یوه لویه پېښه هېڅ امکان نه لري، چې بې اغېزې وي او یا یې اغېزه ورکه شي. دغې پېښې دومره پراخه اغېزه وکړه، چې د افغانستان هر وګړي د اروپاییانو (باید انګرېز یې ویلي وای) په وړاندې بدبیني او بدګوماني پیدا کړه او دا هماغه اغېزه وه، چې په هندوستان کې دننه هم ننوته، آن دا چې د بنګال سرتیري هم د لومړي ځل لپاره پوه شول، چې د دوی انګرېز باداران نه ماتېدونکي نه دي."

خو تټلر دا نه دي ویلي، چې آیا انګرېزانو د دغو ټپونو د ټکور او رغولو لپاره څه وکړل که نه؟ نه نه یوازې دا، چې څه یې ونه کړل، بلکې څلوېښت کاله وروسته یې بیا د افغان-انګلیس د دوهمې جګړې په پیل کولو سره هغه ټپونه بیا وسپړل او له هغه وروسته هر ځل څو څو کاله وروسته یې د خپلو سیاسي تخریبي فعالیتونو په واسطه په دغو زړو ټپونو باندې مالګه اچوله. حال دا، چې د یوه صادقانه او خیرخواهانه سیاست په غوره کولو سره یې کولای شول، چې د وخت په تېرېدو سره یې دغه ټپونه ټکور او رغولي وای، تر څو چې په پای کې یې د دوهمې نړېوالې جګړې (۱۹۳۹ - ۱۹۴۵م.) په پای ته رسېدلو سره، چې په نړۍ کې د ځواکونو توازن بدل شو، د انګلیس تعرضي او یرغلیز سیاست هم بدل

۱. د کپیټالیزم استعماري سیستم. کتاب روسي چاپ، مسکو ۱۹۵۹م. کال.

Scanned by CamScanner

شو. دا ځکه چې د نړۍ کې شمېر مستعمره او نیمه مستعمره هېوادونه د لویدیځ له ښکېلاک او نیواک څخه خپلواک شول، په دې لړ کې یو هم د هند نیمه وچه وه، چې په دوو هېوادونو هند او پاکستان وویشل شوه. د هند خپلواکه کېدو د افغانستان له اوږو څخه د انګلیس د منفي سیاست درونډ بار لرې سپک کړ. یعنې د انګرېزانو د یوې نیمې پېړۍ پخوانی سیاست یو څه بدل شو او د افغانستان د ډېر ورو ورو پرمختګ لپاره لاره هواره او خنډ لرې شو. ممکن وروسته تر دې د انګلیس له خوا د یو (وحشي ملت) په توګه نه بلکې د (زړور ملت) په توګه وپېژندل شو او زمونږ تاریخ هم کم له کمه. د غزنویانو او کوشانیانو تر مهال پورې وغځول شي. البته د انګلیسانو دغه نوی سیاست دا مفهوم نه لري، چې ګواکې د دغه هېواد دلچسپي نور له افغانستان څخه پرې شوې ده.

## په ختیځ کې سوقیات

نور نو امیر دوست محمد خان د خلکو له غوښتنې څخه سرغړونه نشوه کولای، نو ځکه یې د لښکرو سمبالولو امر وکړ. له پینځلس زره سپور او پلي پوځ سره د خیبر ته ورننوت. دا حرکت په افغانستان، پنجاب او سند کې د خلکو د خوښي، هر کلي او شاباسي وړ وګرځېد. امیر دوست محمد خان په ډېره آرامۍ سره د زرګونو جنګیالي افغانانو له منځ څخه تیر او پېښور ته ورسېد. کله چې کلنل هربرټ اډوارډ (په اټک کلاکې انګرېزي کلا ساتونکي) د افغاني پوځونو د راتګ خبر واورېد. په بیړه یې اټک کلا پرېښوده او افغاني پوځ اټک ته ننوت. په دې توګه خودبخود ټول ختیځ افغاني ولایتونه، ډېره جات، پېښور او آن سند، بلوچستان او کشمیر د افغانستان د پاچا راتګ ته سترګې په لار شول. نور نو هیڅ خنډ په مخ کې نه و، په ټول پنجاب کې سکهـ او انګرېزان یو بل سره نښتي وو او د سرپورته کولو وخت یې نه درلود او په ټول هندوستان کې د افغاني پوځ بری په (ماتې نه منونکې) انګرېزي لښکر باندې خپور شو. په اټک کې افغانانو له امیر دوست محمد خان څخه وغوښتل، چې په اټک کې د انګرېزانو په وړاندې پوځ واستوي او د پنجاب ملاتړ وکړي، امیر د خپل زوی سردار محمد اکرم خان تر مشرۍ لاندې یو کنډک پینځه زره کسیز پوځ د ګجرات (د سند او جیلم تر منځ سیمو) د جګړې ډګر ته واستاوه. تر دې مهال پورې شیرسنګهـ انګرېزان د (چیلیانواله) په جګړه کې له ماتې سره مخامخ کړي وو او اوس یې په ګجرات کې خپل پوځونه ځای پر ځای کول. امیر دوست محمد خان له لس زره عسکرو او زرګونو داو طلبو افغانانو سره په اټک کې اړولي وو او ننداره یې کوله. د ۱۸۴۹م. کال د فروري په ۲۱مه په ګجرات کې جګړه ونښته، خو تر هر چا مخکې سردار محمد اکرم راوتښتید. دده تېښتې د سکهـ د ځواکونو مورال مات کړ او انګرېزان په ګجرات کې بریالي شول، خو سره له دې هم د شیرسنګهـ او چتر سنګهـ ځواکونو په پوره مېړانه یوه میاشت نور هم د انګرېزانو د پوځونو په وړاندې جګړه کوله او په عین وخت کې د امیر دوست محمد خان ورتګ ته سترګې په لار وو، خو امیر دوست محمد خان له اټک څخه ونه خوځید، تر څو چې د سکهـ ځواکونه په بشپړه توګه له منځه ولاړل. چتر سنګهـ او شیرسنګهـ چې د امیر دوست محمد خان له مرستې څخه ناهیلي شول، نو سروالتر ګلبت ته تسلیم شول. د سکهـ

ځواکونه یې بې وسلې کړل شول او انګرېزي پوځ له ګوانښ څخه بچ شو انګرېزان ډاډه وو، چې امیر دوست محمد خان د دوی په وړاندې توره نه اوچتوي. نو ځکه انګلیسي سپه سالار لارد کف ګلبرت ته امر وکړ، چې له خپل پوځ سره مخ په پېښور ور شي.

کله چې امیر دوست محمد خان د دښمن د پوځونو له راتګ څخه خبر شو، د خلکو له ټینګار سره سره او د افغاني لښکر د عزم باوجود یې سند ته شا واړوله او مخ په کابل راغی او د ملت زړه یې مات کړ. امیر دوست محمد خان په خپل دغه راتګ سره خپل ورونه سردار سلطان محمد خان او سردار پیر محمد خان، چې تر دې وخته پورې یې د سکهه په دربار کې ژوند کاوه له ځان سره راوستل. دا ددې لپاره، چې انګرېزان دغه دواړه کوم وخت دده په وړاندې ونه دروي. انګرېزانو چې میدان تش ولید. نو ځان یې د سکهانو پر ځای د سند ښي غاړه کې واکمن اعلان کړ. دا هماغه حیاتي پېښه ده، چې د یو سل او څو کلونو له تیرېدو وروسته بیا هم د (پښتونستان) د قضیې په توګه افغانستان د خلکو د سترګو مخه کې شته.

## پښتونستان

پښتونستان یعنې هغه ځمکه او سیمه، چې له چترال څخه تر سمندر پورې د اته سوه میله په واټن کې د سند ښي غاړې ته پرته ده او شپږ میلیونه وګړي پکې اوسېږي او دا د افغانستان یوه طبیعي برخه ده. له ۱۸۱۰ څخه تر ۱۸۳۳ پورې یعنې په افغانستان کې د محمدزایي ورونو تر خانه جنګیو پورې د سکهه د پنجاب حکومت د انګرېزانو په لمسون دغه سیمې د سند د رود دوو غاړو ته ورو ورو قدم په قدم ونیولې. په ۱۸۳۸ کې د انګلیس حکومت د لاهور د درې اړخیز تړون په واسطه د نیول شویو سیمو بېلول په رسمي توګه په فراري شاه شجاع ومنل. خو د افغانستان خلکو د شاه شجاع په وژلو سره او په ۱۸۴۱ کې د انګرېزي ځواکونو په ماتولو سره ددغه تړون ټول مفادات باطل کړل، ددې په وړاندې د امیر دوست محمد خان له لاسه تر ۱۸۵۴م. پورې وار په وار د سند او بلوچستان ولایتونه انګرېزانو ونیول او د سکهه د دولت له پرځېدو وروسته او د امیر دوست محمد له په شا کېدو څخه وروسته انګرېزانو په ۱۸۴۹م. کې په ګجرات او اټك کې ځان د سکهه د دولت ځای ناستی کړ او له افغانستان څخه په نیول شویو ولایتونو کې یې خپل حاکمیت اعلان کړ.

خو آیا انګرېزانو د سلو کالو په ترڅ کې په دغه ولایتونو کې څه وکړل؟ انګرېزانو تر هر څه مخکې تجزیه او ویش پیل کړ او د چترال، سوات، دیر او باجوړ (په شمال کې) په نومونو یې جلا جلا ریاستونه او په کلات، مکران، خاران، لاسبیله، سیبي، پښین، شوره رود (د بریتانوي بلوچستان په نوم) په جنوب کې یې نور جلا جلا ریاستونه جوړ کړل او په محکوم سرحد کې یې د دیره جاتو، پېښور، هزاره او اټک ریاستونه او په آزاد سرحد کې یې د تیرا، شمالي وزیرستان جنوبي وزیرستان او کرمې سیمې یو بل څخه جلا او سره وویشلې. انګرېزانو له دغو سیمو سره خپلې اړیکې د بېلا بېلو ایجنسیو په واسطه وساتلې او د هغو اداره یې هم په همدغو ایجنسیو سره کوله او هرې یوې ته یې د یوې ایجنسۍ نوم هم

Scanned by CamScanner

ورکړ لکه د ډیره جاتوایجنسي، د پېښور ایجنسي هزاره ایجنسي، اټك ایجنسي، ملاکنډ ایجنسي، خیبر ایجنسي، کُرمه ایجنسي، د شمالي اوجنوبي وزیرستان ایجنسي، د کوټې ایجنسي، د لورلايي ایجنسي، ژوب او چګي ایجنسي. ددغو ایجنسیو سیاست اودنده داسې وه: د کورنۍ بې اتفاقۍ جوړول، د هر ډول ټولنیزو (کلتوري، مدني، اقتصادي اونورو) پرمختیاوو مخنیوی، د نظامي کلاوو جوړول، د سړك جوړولو د سیستم د رامنځته کولو، د حاکمه نقاطو ترلاسه کول او د عمومي تجارتي لارو د کټې ترلاسه کول او نور د مقاومت په صورت کې د خلکو تر وروستي برید پورې ټکول او د بېړو پرمختللو توپونو، الوتکو او آخري ماډل جنګي بم غورځونکو په واسطه د ولسونو ځپل او اقتصادي کلابندي اوآن دا، چې د خلکو په تګ راتګ بندیز او ځړ ځایونو ته د ځارویو د تګ مخنیوی انګرېزانو د ډیورنډ په تړون سره ټول آزاد سرحدات له افغانستان څخه جلا کړل او هغه یې د (ډیورنډ د کرښې) او د اداري سرحد د کرښې تر منځ را ایسار کړل. چې د محکوم سرحد په نوم یادېږي. بیا یې د سړکو په غځولو سره د آزاد سرحد زړه هم سوری کړ او له محکوم سرحد څخه یې د ډیورنډ تر کرښې پورې خاته لاره پرانیسته، په دې توګه آزاد سرحد لکه دیوه کرېت په شان په کپس کې بندي شو. ددې معنا دا ده، چې د افغانستان او هند سرحد (ډیورنډ کرښه) د هند د انګلیسي دولت اصلي پوله نه وه. بلکې ددغه دولت پوله هغه کرښه وه، چې د ګومل تر سیند پورې د غرونو په لمن کې ایستل شوې وه اوهغه د (محکوم سرحد) په نوم یادېدله. د ډیورنډ او دددغه محکوم سرحد تر منځ یوه بله سیمه پیدا شوه، چې (آزاد سرحدات) نومېدل او یوه خپلواکه سیمه وه. د کابل، کُرمې، توچي او ګومل څلور سیندونه، چې د آزاد سرحد د غرونو له منځه تیرېدل، اصلي لویې لارې دي، چې اوسنی افغانستان د سند له سیند سره او له هغه پورې غاړه سیمو سره نښلوي. پرته له هغې لارې څخه، چې د کندهار او کوټې تر منځ غځېدلې ده، د افغانستان او هندوستان تر منځ بله لویه لاره د خیبر لاره وه. د وزیرستان په جنوب کې ګومل او د وزیرستان په شمال کې د توچي کُرمې لارې او د پیواړ غاښې له څلورو لارو څخه یواځې د کُرمې لاره وه، چې محکوم سرحد یې له ډیورنډ کرښې سره نښلولای شو، نورې ټولې لارې له خپلواکې سیمې څخه تیرېدې، د انګلیس حکومت دغه سیمه د هند د اردو لپاره د ښکار ځای په توګه د یوې ساتل شوې سیمې په توګه په پام کې ونیوله، چې تګ راتګ او ګرځېدل یې پکې بند کړل، خو یواځې د یو شمېر نظامي مانورې او عملي ستاژ او جنګي تمرین لپاره یې ورڅخه کار اخیست، نو ځکه په دغه سیمه کې د سلو کلونو په ترڅ کې په دغه سیمه کې انګرېزانو د سیمې له خلکو سره سل ځله جګړې وکړې، انګرېزانو په ۱۸۵۰م کې بهادر خېلو او وزیرستان، په ۱۸۵۴ کې په اپریدیو په ۱۸۵۵ کې په بر اکاخېلو، په ۱۸۵۹ کې په کرُمه او په ۱۸۲۰ کې په مسودو باندې برید و نه وکړل او له ۱۸۵۰ څخه تر ۱۹۰۰۵م پورې یې یواځې له اپریدیو سره اته ځله لویې جګړې او له ۱۸۵۱ څخه تر ۱۸۲۴ پورې یې له مومندو سره شپږ لوی جنګونه وکړل. په دغو جګړو کې یوه هم د امبیلي جګړه وه، چې په ۱۸۲۳ کې وشوه. بله یې د (میزار) جګړه وه، چې په ۱۸۹۷ کې وشوه (کله چې د ډیورنډ تړون لاسلیك شو)، چې دغه جګړه تر مالاکنډ، مومند، اپریدو، تیرا او اورکزیو پورې پراخه شوه او یوه بل کال پورې اوږده شوه. د

انګرېزانو له هند څخه تر وتلو پورې د سلیمان غره او خیبر درې له نیولو څخه ډډه ونه کړه او تل یې په دغه سیمو کې جګړه پر مخ بوتلې. دوی په دغو سیمو کې په هره جګړه کې له شپږو زرو څخه تر شپېته زرو پورې سپاهیان ځان سره بیول او د هغو په هڅو یې، چې د امپراتورۍ د پراختیا لپاره وکړي، باید د آزاد سرحد او آزادو قبایلو یو تن هم ژوندی نه وای پاتې او په دومره جګړو سره به خامخا یو بر اعظم هم نیول شوی وای، خو دا ډول ونشول. بلکې انګرېزانو په هره جګړه کې په ډګر کې له سلو څخه تر زرو تنو پورې له لاسه ورکول او د هر برید په وړاندې به له متقابل ګوزار سره مخامخ کېدل. د سلو کالو په جګړه کې یواځې مومندو ۲۵ ځله په انګرېزانو برید وکړ او د نیمې پېړۍ په ترخ کې وزیرو پر انګرېزانو باندې لس ځله بریدونه وکړل.

د افغانانو د دغې بېسارې دفاع پایله دا وه، چې د انګرېزانو امپراتورۍ د افغانستان د ختیزو ولایتونو له نیولو څخه زړه ماتې شوه او په سیده توګه وربانډې واکمن نه شول. نو ځکه اړ شول. چې له چترال څخه تر سمندر پورې د خلکو د خود ارادیت حق وپېژني او دغې سیمې ته داخلي خودمختاري ورکړي او په هره سیمه کې سیمه ییز مشران په رسمي توګه وپېژني او په هغو یواځې قیمومیت ومومي. د انګرېزانو دغو سیمو کې لاسوهنې او سیده واک په پېښور، دیره جاتو (شمال غربي صوبه سرحد) او ددغې سیمې په جنوب کې د سیبې او پښین او دوکې او شوره رود (برتانوي بلوچستان) باندې ممکن شو، خو په نورو سیمو نه.

آیا انګرېزانو په پورتنیو نیول شویو سیمو کې څه وکړل؟ دوی دغه سیمې په ډېر وروسته پاتې حالت کې وساتلې. دوی دغه سیمې له هغو نیمګړو ریفورمونو څخه هم محرومه وساتلې کوم، چې په هندوستان کې وشول. ددغو سیمو خلک له هغو له هغو لږ شمېر سیاسي حقونو هم محروم وساتل شول، چې هندوستان خلکو ته ورکړل شوي وو، په هندوستان کې هم ایله د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي (۱۹۳۲م) کې هندوستاني اتباعو ته "حقوق" ورکړل شول، خو له دې ټولو سره سره د صوبه سرحد اقتصاد د غیر افغاني خلکو په لاس کې پاتې شو. په دغه ټوله سیمه کې یواځې یوه د میوې او بله د چینې فابریکه جوړه شوه او بس. د تعلیم له پلوه دغه ټوله سیمه کې یواځې څلور نیم زره زده کوونکي ښوونځي ولاړل، چې هغه هم یواځې د شتمنو زامن وو. ایله په ۱۹۱۳ کې د پېښور اسلامي کالج د یو شمېر فیوډالانو او نوابانو په لاس جوړ شو. البته وروسته تر هغه، چې په صوبه سرحد کې د هغه مهال په اصطلاح کانګرسي کابینه په خپله افغانانو څخه جوړه شوه، نو یو شمېر ریفورمونه هم عملي شول. له ۱۹۳۷ څخه وروسته معارف وده وموندله او په ۱۹۵۰ کې د پېښور اسلامیه کالج په پوهنتون باندې بدل شو. د کابینې په سر کې د عبدالغفار خان ورور ډاکټر خان راغی، خو هغه په ۱۹۵۸ کې ووژل شو (د معارف وزیر قاضي عطاالله خان و، چې وروسته بیا د پاکستان په سیاسي جیل کې ووژل شو).

سره له دې، چې انګرېزانو د سند تر غاړو نیول شوي افغاني ولایتونه په وروسته پاتې بڼه وساتل، نو هلته یې د سیاسي غورځنګونو مخه ونشوه نیولای، دلته سیاسي غورځنګونه لکه هماغسې چې له نولسمې پېړۍ څخه را پیل شول، په شلمه پېړۍ کې په تېره بیا وروسته تر لومړنۍ نړیوالې جګړې څخه

نور هم پر مخ ولاړل انګرېزان چې په دغه جګړه کې بریالي راووتل. د هندوستان د خدمتونو په وړاندې یې غچ اخیستونکي ګامونه اوچت کړل صوبه سرحد. چې د هند د انګلیسي حکومت تر اداري لاندې وو ځکه دغه صوبه اړه شوه. چې د هند په چارو کې ښکېل او د هندي انګرېزانو تر اغېزې لاندې ول. افغانانو لومړنی غونډه د عبدالغفارخان تر مشرۍ لاندې په اتمانزو کې وشوه او د انګرېزانو د ژرانګې د وړاندې پکې احتجاج وشو. خان عبدالغفارخان له نوزو افغاني مشرانو سره سره یو ځای د انګرېزانو د چلند په جیل کې ولوید. دې پسې وروسته افغانستان د انګرېزانو په وړاندې دریمه جګړه اعلان کړه او په پېښور کې یې یوه اعلامیه خپره کړه. چې په هغې کې پېښور ته د افغانانو د ننوتلو ژمنه شوې وه. په ۱۹۲۱ کې کله. چې د صوبه سرحد افغاني مشران جیل ته اچول شوي وو. په پېښور کې (د خلافت د تولنې) یوه څانګه جوړه شوه. دا هماغه تولنه یا جمعیت و. چې وروسته تر لومړۍ نړیوالې جګړې څخه د هند د مسلمانانود سیاسي رهبرانو مولوي محمد علي خان او شوکت علي خان له خوا جوړه شوې و. په ۱۹۲۲م کال کې کله. چې پرنس اف ویلز راغی د پېښور د خلکو یې مخالفت وکړ او ډېر خلک ددغه مخالفت له لامله جیل کې پرېوتل. دوی تول د هندو او مسلمان د خلافت په تحریک سره یو ځای او یو شول او ګاندي په هند کې د (عدم تعاون) د تحریک مشرتوب په غاړه واخیست. کله. چې د مصطفی کمال رژیم رامنځته شو. نور نو (د خلافت تحریک) کومه موضوع نه درلوده. خو د عدم تعاون تحریک په هند کې همداسې په خپل قوت سره پاتې شو. او یو شمېر نامتو خلک لکه چندرابوس او هغه سره نور ملګري یې فعال پاتې شول. البته انګرېزان هم غلي پاتې نه شول، بلکې دوی د (شردهانند) په شان په هند کې د هندوانو او مسلمانانو تر منځ دیني او مذهبي تفرقه واچوله او د نفاق اور یې بل کړل. آن دا، چې یو شمېر متعصبو خلکو ویل. چې هندوستان د هندوانو مال دی او مسلمانان باید خپل مذهب بدل کړي، یا به له هندوستان څخه لاس په سر کېږي، نو ځکه مسلمانانو هم په دفاعیه اقداماتو لاس پورې کړ او ډېرې وینې وبهېدې، چې په پایله کې یې د هندوانو او مسلمانانو یووالی له منځه ولاړ او انګرېزان په دغه نفاق سره ډاډمن شول.

وروسته وروسته بیا عبدالغفار خان د حاجي ترنګزايي د فعالیتونو په لړ کې او په هغه پسې وروسته په ۱۹۲۴ کې (انجمن اصلاح افاغنه) جوړ کړ. ددغه ستر مشر نور ملګري محمد اکبرخان خادم، میان احمدشاه خان. قاضي عطاالله خان (د پښتنو د تاریخ مولف) جعفر شاه خان کاکاخېل. عبدالکریم خان او نور وو. دغه انجمن (تولنې) په ۱۹۲۹ کې یوه غونډه وکړه او په ۱۹۳۰ کې یې د خدايي خدمتګارو (سرخپوشانو) ګوند جوړ کړ (چې نسواري رنګه جامې یې اغوستې) خو د صوبې د خلکو او مشرانو ددغو تولو قربانیو سره سره او ددې باوجود، چې په پېښور. کوهاټ او دیر، اسمعیل خان کې یې له انګرېزانو سره مقابله وکړه، بیا هم د ملي آزادۍ په اخیستلو بریالي نه شول. آن دا چې اپریدیو په پېښور برید وکړ او ډېر اپریدیان ووژل شول او ډېر یې جیل ته ولویدل، خو خپلواکي یې ونشوه ګټلی دا، ځکه چې دوی له افغانستان څخه جلا ساتل شوي وو او د انګرېزانو د امپراتورۍ په وړاندې په مبارزه کې یوازې وو، خو د هندوستان د مبارزینو ځواک ته سترګې په لاره وو. خو ددغو مبارزو په سر کې دوه

Scanned by CamScanner

ملي قوتونه وو یو یې کانګرس او بل یې مسلم لیګ. چې دوی یو ډول هم د صوبه سرحد د افغانانو ځانګړو ګټو ته کومه ځانګړې پاملرنه نه درلوده. کانګرس ګوند لوی هندوستان غوښت او مسلم لیګ د مسلمانانو لپاره د یوه جلا هیواد غوښتونکی و. البته کانګرس ډېر پیاوړی او متحد و. نو ځکه د انګرېزانو ورته ډېر پام و، خو مسلم لیګ د انګرېزانو د یو شمېر پلویانو د پاملرنې ډډ و. د مسلم لیګ ډېر پیاوړي محور غړي لوی فیوډالان، نوابان، جاګیرداران او هغه خانان وو. چې د خلکو له ګټو سره یې چندان علاقه نه لرله، نو ځکه مسلمانان اکثریت وګړي په نورو ډلو هم ویشل شوي وو. لکه کانګرسي مسلمانان، لیګي مسلمانان، جمعیت العمایي مسلمانان او نور په دې حالت کې د صوبه سرحد مسلمانان تر لیګ څخه کانګرس ته ډېرې هیلې درلودې. سره له دې، چې په خیل کې پروت عبدالغفارخان مسلم لیګ سره د یو ځای کېدو په خاطر دغه ګوند ته مراجعه وکړه، خو مسلم لیګ هغه ونه مانه، خو کانګرس افغانانو ته په پرانیستي غېږ سره هر کلی ووایه. له همدې لامله د افغاني مبارزینو تر منځ بیلوالی راغی او په یوه نازک حالت کې یې خواکونه سره تجزیه شول او پردیو له دغه فرصت څخه په خپله ګټه فایده واخیسته، خو افغان ملت ته یې زښت زیات زیان ورسېد. افغانان نیم کانګرسیان او نیم مسلم لیګیان شول، ملت پالي کمزوري شول او د سرخپوشانو تر منځ هم بېلتون راغی. مسلم لیګیانو د الله آباد په لویه غونډه کې د نامتو شاعر ډاکتر اقبال په مشرۍ د (پاکستان) شعار پورته کړ او وروسته بیا دغه شعار په ۱۹۴۰م. کې تصویب شو. کانګرس هم په ۱۹۴۲ کې جواهر لال نهرو د افغانانو هیواد صوبه سرحد ته واستاوه. سره له دې چې نهرو ته په ګرځېدو راګرځېدو کې ښه هر کلی ونه ویل شو، خو د ۱۹۴۷م. کال د جون په دریمه د لارډ ویول ځای ناستي لویي مونت بیټن د هندوستان ویش اعلان کړ او د صوبه سرحد افغانان د ویرې په حالت کې پاتې شول. یوه فرمایشي رای ګیري او نمایشي ریفرنډوم وشو او چاته د هند او چاته پاکستان د خوښولو اختیار ورکړ شو او دغه فرمایش رای ګیري په پېښور کې د همدې کال د جولای له ۶- ۱۷ پورې وشوه. حال دا چې د خپلواکۍ او یا هم افغانستان سره د هغوی د یو ځای کېدو په هکله د هغوی نظر. ونه پوښتل شو. د صوبه سرحد خپلواکي غوښتونکو له دغې رای ګیرۍ سره پریکون وکړ. پاکستان نه یوازې دا چې رایي ورکوونکو ته یوې خوا ته قرآن او بلې خوا ته د هندوانو کتاب کېښود، بلکې په رایه اچولو کې یې هم ټګي وکړه او په دغه صوبه کې یې هندیانو او پنجابیانو ته وخت ورکړ، په دې توګه د سرحد له درې میلیونو نفوسو څخه یوازې درې سوه زره تنو رای ګیرۍ کې برخه واخیسته او په دې توګه د هند په پرتله د پاکستان د رایو شمېر زیات وګڼل شو. انګرېزانو هم واخیسته او صوبه سرحد یې په پاکستان پورې وتاړه. د اګست په څوارلسمه د سند، پنجاب، صوبه سرحد پېښور او دیره جاتو. بنګال او بلوچستان په شمول د پاکستان جوړېدل اعلان شول، په داسې حال کې چې د افغانستان دولت یوازې نندارچي و، د پاکستان دولت چې د افغانستان د دولت له دغه حالت څخه استفاده کړې وه، نور هم نه زړور شو او ورپسې یې د افغانانو د ملي هویت په له منځه وړلو او د پنجاب په ولایت کې د هغوی په ورګډولو یې لاس پورې کړ. په دې ترځ کې د سرحد د صوبې ولایتي کابینه، چې د پارلمان په بشپړ اکثریت ولاړه وه، لغوه شوه په چارسده کې

د کلات خان، د باجوړ خان او د امب نواب لړې کړل شول او افغاني خپلواکي غوښتونکي چاپماري شول. د خلکو لارښوونکي بندل کړل شول او بیا نو جیل ته واستول شول ملي ګوندونه له منځه یوړل شول او پنجابي مهاجرین د افغانانو پر سیمو راشیوه شول تر څو. چې د انګرېزانو د مهال آزاد سرحدات هم د پاکستان د یوې برخې په توګه اعلان او (صوبه سرحد) د پاکستان د لویدیخ یونټ د یوه لړکي په توګه وشمېرل شول او افغاني ملیت د ورکېدو تر ګواښ لاندې راغی سره له دې. چې تر اوسه لا هم د دغې سیمې برخلیك او د هغه خاې د افغانانو راتلونکې څرګنده نه ده. خو دا ثابته خبره ده. چې ټول هغه خلك او هغه سیمې. چې له چترال څخه تر سمندر پورې پرته دي. افغانان وو او په راتلونکو کې به هم افغانان وي دوی به فقط د مبارزې په واسطه وکولای شي. چې ځانونه د پردیو له واکمنې څخه خلاص کړي

## د شمالي ولایتونو سمبالول

په هر حال کله، چې امیر دوست محمد خان د ګجرات له جګړې څخه وروسته د سند له غاړو څخه کابل ته راستون شو او د افغانستان خاوره یې په وړیا توګه دښمن ته ورپرېښوده، د خلکو د کرکې وړ وګرځېد، نو د دغې ماتې د جبران په خاطر د هېواد د شمال لوري سیاسي وحدت ته متوجه شو. په تېره بیا هغه په دې باندې پوهېد، چې انګرېزان له ۱۸۴۲م. کال راهیسې د پنجاب د پېښې په حل کې بوخت دي او اوس دا دی د افغانستان ختیز ولایتونه له ستوني تیروي او په ده باندې د نورو بارونو د اېښودلو وخت نه لري، نو ځکه یې په ۱۸۵۰م کې د سردار محمد اکرم خان په مشرتوب یو کوچنی پوځ د شمال لوري ته واستاوه، چې پرته له کوم خنډ او ستونزې څخه دبامیان له لارې بلخ ته ورسېد. دا ځکه چې د دغو سیمو سیمه ییز مشران د هرات او کندهار د مشرانو برخلاف د خپلواکۍ دعوا نه کوله. بلکې د انګرېزانو د واکمنۍ په ټوله موده کې یې تل د افغانستان له مرکزي دولت څخه پلویتوب کاو، نو ځکه د دغو سیمو ټولو هغو سیمو ییزو واکمنو، چې د وزیر فتح خان د ورونو له واکمنې څخه تر اوسه په خپلو سیمو کې واکمن وو، له تخارستان (قطغن) او بلخ څخه یو په بل پسې سردار ته راغلل. مرکزي دولت ته یې خپل اطاعت څرګند او د مالیاتو ورکول یې ومنل. سردار دغه ټول سیمه ییز فیوډالان په خپلو سیمو کې په واك کې پرېښودل لکه په تخارستان کې شاه مراد خان، په بلخ کې ایشان اوراق خان، په آقچه کې میر صدور، په شبرغان کې میرحکیم خان، په ایبك (سمنګان) کې بابه بېګ خان په اندخوي کې غضنفر خان، په تاشقرغان (خلم) کې ګنجلي خان، په سرپل کې محمود خان او داسې نور. په خپله سردار محمد اکرم خان په بلخ کې د ټولو شمالي ولایتونو د عمومي والي په توګه پاتې شو. خو دغه امنیت ډېر پاتې نه شو. ډېر ژر فیوډالي جګړې پیل شوې، دا ځکه چې امیر دوست محمد خان داسې چلند پیل کړی و، چې افغان سیمه ییز حکومتونه یې ټول خپلو زامنو ته ویشل. خو نورو فیوډالانو دا نه منله. سیمه ییزو چارواکو د امیر د زامنو له درنو بارونو او مالیاتو څخه د بزګرانو له ناخوښۍ څخه ګټه پورته او ډېرو ځایونو کې یې پاڅونونه پیل کړل. د بېلګې په توګه په ۱۸۵۱ کې په آقچه کې ټولو سیمه ییزه مشرانو په ګډه پاڅون وکړ او ورپسې په سرپل کې محمود خان پاڅون وکړ، چې په زور سره وځپل

Scanned by CamScanner

شول په همدغه کال کې په هرات کې وزیر یارمحمد خان وفات شو او د هغه ولایت چارې ګډې وډې شوې. کله چې امیر دوست محمد خان سردار محمد اکرم خان په بلخ کې وټاکه خپل بل زوی سردار محمدشریف خان یې هم د محمداکرم خان سرباري کړ او دې پسې یې خپل نور زامن لکه سردار محمدحیدرخان، سردار محمدامین خان او سردار شجاع الدوله خان (وراره) بلخ ته ور واستول البته د دومره زیاتو متساوي الحقوقه سردارانو مړول خلکو ته یو دروند بار و. په تیره بیا ګډوډي هغه مهال لا زیاته شوه، چې سردار غلام حیدرخان کابل ته د خپل راتګ پر مهال د بلخ او آقچه دوه لوی لوی نیوډالان (ایشان اوراق خان او ایشان صدورخان) د هغوی له کورنیو سره یو ځای راوستل او د دوی ځای یې خپلو ورونو سردار ولي محمدخان او سردار محمدزمان خان ته ورکړ. د سردار محمداکرم خان له مړینې وروسته سردار محمدافضل خان د هغه ورور د شمالي ولایتونو والي شو. په ۱۸۵۲ کې د شبرغان خلکو د میرحکیم خان مشري لاندې پاڅون وکړ. سردار محمدافضل خان هغوی وټکول. همدا مهال په کلات کې هوتکو او توخي قوم بل پاڅون وکړ، چې وروسته تر ځو جګړو یې سردار شیر علي خان سره روغه- جوړه وکړه. په ۱۸۵۳ کې د امیر دوست محمدخان او کندهاري ورونو تر منځ د کلات د نیولو پر سر جګړه ونښته، خو د کلات د جنګي کلا د نړولو په شرط دغه جګړه پای ته ورسېده. په ۱۸۵۴م. کې توخیانو او هوتکیانو یو ځل بیا پاڅون وکړ، د امیر پوځونو هغوی روغې- جوړې ته اړ کړل او د کلات نړول شوې کلا بېرته ودانه شوه. په همدې کال کې سردار کهندل خان اوسردار مهردل خان مړه شول. پاتې ورونو د امیر د برید له ویرې سردار رحمدل خان ایران ته واستاوه، تر څو د قاجاري دولت ملاتړ ترلاسه کړي. د دوی دې کار هم امیر دوست محمد خان او هم انګلیسي دولت په افغانستان کې د ایران د لاسوهنې د پلویانو په اندېښنه کې واچول. نو ځکه انګرېزانو ددې لپاره، چې امیر دوست محمدخان وکولای شي، په خلاص مټ کندهاري سرداران وټکوي او د انګرېزانو له مرستې څخه یې ډاډمن کړي، امیر ته یې بلنه ورکړه، چې په جمرود کې د انګلیس له استازیو سره وګوري اوهغوی سره یو دوستانه تړون لاسیک کړي.

## د جمرود تړون

د پنجاب ګورنر سرجان لارنس د هند د ګورنر جنرال لارد دالهوزي له خوا د تړون د لاسلیک کولو واک درلود. امیر دوست محمدخان خپل ولیعهد سردار غلام حیدرخان ۱۸۵۵ کې جمرود ته واستاوه، چې د ۱۸۵۵ کال د مارچ په ۳مه نېټه لاندیني درې توکیز تړون لاسلیک شو:

لومړی توک: د هانریبل ایست انډیا کمپنۍ او د کابل او د افغانستان د ملکونو د والي جناب امیر دوست محمدخان او د هغه د ورثه وو تر منځ به سوله او دوستي دوام ولري.

دوهم توک: هانریبل ایست انډیا کمپني ژمنه کوي، چې د هغو ټولو سیمو درناوی به کوي، چې همدا اوس د امیر په واک کې دي او په هغو کې به هېڅکله لاسوهنه نه کوي.

دریم توک: د افغانستان د هغو سیمو اود کابل د والي امیر دوست محمدخان ژمنه کوي، چې له خپل

لوري او د خپلوورڅه وو له لوري د هانریبل ایست انډیا کمپنۍ سیمو ته د رناوی به کوي او هېڅکله به هغو کې مداخله ونه کړي او د هانریبل ایست انډیا کمپنۍ دوست به پاتې کېږي او د دغې کمپنۍ له دښمنانو سره به دښمن وي.

دا د محمدزیو د دولت لومړنی تړون و، چې انګرېزانو ولیکه او د امیر دوست محمد خان استازي پرته له څه پوښتنې ګروېږنې او آن پرته د یوې کلمې له اصلاح کولو څخه هغه لاسلیك کړ. یعنې د افغانستان د سوبمن او بریالي شوي ولس خپلواکي او د سند د بنۍ غاړې او بلوچستان او نورې سیمې یې رسماً ماتې خوړلي دښمن ته ور تسلیم کړې او په افغانستان کې د انګرېزانو د نفوذ او د بدمرغیو لاره پرانیستل شوه. حال دا چې د لاهور او کندهار هغه پخوانی خانیانه تړون. چې انګرېزانو په شاه شجاع باندې تپلی و. هغه لا مخکې د افغانستان ملت د تورې په زور په وینو سره مینځلی او له منځه یې وړی و.

## د کندهار الحاق

په همدې کال کې د کندهار حالات ګډوډ شول. دا ځکه چې د سردار مهردل خان او سردار کهندل خان له مړینې وروسته د دغه ولایت د ۱۴ کوچنیو پاچایانو تر منځ د قدرت ترلاسه کولو لپاره جګړې پیل شوې. دغو زیات شمېر سردارانو لکه رحمدل خان. محمدصدیق خان، عبدالله خان. سلطان علي خان، محمدعمرخان، محمدعثمان خان، غلام محی الدین خان، محمد علم خان، غلام محمدخان طرزي، میرافضل خان، عبدالرسول خان، عبدالاحدخان، منور دل خان او شیرعلي خان هر یوه له کندهار څخه تر ګرشك، زمیندار او فراه پورې ډېرې ښې ځمکې او بشپړ اداري اختیارات ترلاسه کړي وو: یو بل سره جګړه پیل او کندهار ښار دننه، بهر، په کوڅو او بازارونو کې یې شپه او ورځ د جګړې اورونه بل کړل له دې لامله، چې دوی زیاترو د ښار دننه کورونه او د خپلو بامونو له سره به یې یو په بل دزې کولې نوګڼ شمېر خلك په دغو جګړو کې ووژل شول، په دې توګه د کندهار ټول خلك د دوی د جګړو له لاسه په غوسه شول. سردار سلطان احمدخان مجاهد. چې د امیر دوست محمدخان په امر له کابل څخه ایستل شوی و. او اوس په کندهار کې د یو بې غرضه او ناپېیلي میلمه په توګه اوسېد، لکه د ټولو نورو خلکو په شان د هېواد ددغې برخې د بربادۍ له امله خواشینی و. هغه له خلکو سره یو ځای د کندهار سردارانو ته چې ټول یو د بل ورونه-ترونه پلرونه او زامن وو، سلا ورکړه، چې ددغه ښخړې د هوارولو په خاطر دې امیر دوست محمدخان د منځګړي په توګه وټاکل شي. سردارانو ومنله او له امیر دوست محمدخان څخه یې د منځګړیتوب غوښتنه وکړه. امیر دوست محمدخان، چې د جمرود د تړون له مخې خاطر ډېر ډاډه او په امنیت کې احساساوه، له خپلو څو زامنو او لښکر سره کندهار ته ورغی، هغه د منځګړیتوب په خاطر له ښار څخه بهر تم شو، خبرې-اترې اورېدې شوې او امیر یوه ورځ د خرقې د زیارت په نامه ښار ته ننوت او بیا راونه وت. د هغه لښکرو ښار ونیو او د کندهار حکومت یې خپل ولیعهد سردار غلام حیدرخان ته ورکړ. په دې توګه د کندهار ولایت د هېواد له مرکز سره وتړل شو او له کندهاري ورونو

Scanned by CamScanner

ځنډه یوه ایې یو نوم پاتې شو. امیر دوست محمد خان امر وکړ، چې د ولایت د هر کال له مالیې څخه به نظامي لګښت جلا کېږي او پاتې یو میلیون او شپږ سوه زره روپۍ به د معاش په توګه د غو بډایو او سردارانو ته ورکول شي، نورو سردارانو ومنله، خو درې تنو (سردار شیرعلي خان، سلطان علي خان او محمد علم خان) ونه منله او ایران ته ولاړل. له دې څخه وروسته امیر دوست محمد خان بېرته کابل ته راغی او په ډاډه زړه کښېناست، هغه نامتو مبارز سلطان احمد خان ایران ته تبعید کړ، دا ځکه چې هغه نل همدا ویل، چې باید د افغانستان د ختیزو ولایتونو د بېرته نیولو په خاطر لاس په کار شي. په ۱۸۵۶ کې د امیر د زوی سردار محمد اسلم خان (د دایزنګي) حاکم د زورزیاتي له لاسه خلکو پاڅون وکړ، خو ډېر ژر بېرته سوله وشوه.

## پر هرات باندې د ایران برید

په همدې کال کې د هرات په ولایت کې یو شمېر نوې پېښې په مخه راغلې. په ۱۸۵۱ کال کې د هرات د والي وزیریار محمد خان له مړینې څخه وروسته هرات ګډوډ شو. د وزیر خای ناستی او زوی سید محمد خان، چې یو بېړا سړی و، د ولایت چارې یې نشوې سمبالولای، نو ځکه خلکو پاڅون وکړ. له دې لامله، چې د خلکو زړونه له امیر دوست محمد خان څخه مات شوي وو. نو د هرات د حکومت د نیولو په خاطر یې سردار کهندل خان له کندهار څخه راوغوښت، خو د ایران قاجاري دولت د سعید محمد خان د ملاتړ په بهانه هرات ته عسکر ننویستل او د هرات په چارو کې یې لاسوهنه پیل کړه، نو ځکه کهندل خان بېرته کندهار ته او د ایران پوځ بېرته مشهد ته ستانه شول. د هرات خلکو یو ځل بیا د نایب عیسی په مشرتوب پاڅون وکړ. په ۱۸۵۵ کې یې سیعد محمد اعدام کړ او حکومت یې شهزاده یوسف ابدالي ته ورکړ، ایران دولت د سعید محمد د غچ اخیستو په بهانه د ۱۸۵۶م. کال په اکتوبر کې یو ځل بیا پر هرات پوځي تیری وکړ او هرات یې کلابند کړ. شهزاده یوسف او نایب عیسی له کابل څخه مرسته وغوښته، خو امیر دوست محمد خان مرسته ونه کړه، نو ځکه د دښمن د پوځونو له قوماندانانو مراد مرزا سره خبرو-اترو ته یو په بل پسې د ایران پوځ ته ورغلل. خو دواړه د ایران پوځیانو ووژل او د دښمن پوځ د هرات په بې دفاع ښار واکمن شو.

## دوهم تړون

همدا مهال د انګلیس دولت لکه د کندهار د ولایت د ویش په شان د هرات د ولایت د ویش له فکر څخه تېر شو او له امیر دوست محمد خان سره یې د خبرو-اترو هڅې پیل کړې. امیر دوست محمد خان لارد دالهوزي ته ځواب ورکړ، چې نشي کولای چې هند ته ورشي، خو په جمرود کې خبرو-اترو ته چمتو دی، په دې توګه په ۱۹۵۷ کال کې په جمرود کې د جون په میاشت کې امیر او لارنس یو بل سره وکتل. دا مهال انګلستان له قاجاري دولت سره په جګړه کې وو او هرات لا دا مهال هم د قاجاریانو په لاس کې و،

دا مهال د افغان- انګلیس یو تړون د ا میر د زوی سردار محمد اعظم خان او جان لارنس تر منځ لاسلیک شو (د ۱۸۵۷ کال د جنوري شپږمه):

۱- له دې لامله، چې د ایران حکومت د خپلو ژمنو برخلاف هرات نیولی او د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوي، نو د ایران او انګلیس تر منځ به جګړه دوام ولري او ددې لپاره چې امیر دوست محمدخان وکولای شي، چې د هېواد له ولایتونو څخه دفاع وکړي د هند کمپنۍ چمتو ده. چې د جګړې تر پای پورې په میاشت کې سل زره روپۍ (لس زره پونډه) د لاندنیو ټکیو په پام کې نیولو سره امیر دوست محمدخان ته ورکړي.

۲- امیر دوست محمدخان به له اوسنیو پوځونو پرته یو بل دیارلس زره کسیز سپور منظم پوځ او یو پلې ۱۸ زره کسیز پوځ چمتو کوي.

۳- د ټاکل شویو پیسو اخیستل او افغانستان ته یې وړل د امیر دوست محمدخان په واک کې دي.

۴- د افغانستان په درې ګونو ولایتونو (کابل، کندهار او بلخ) کې به د انګلیس استازي خپل دولت ته د راپورونو د ورکولو په خاطر او په چارو باندې د څارنې لپاره میشت شي. دوی به په کورنیو چارو کې کار نه لري، د دغو ساتل به د امیر دوست محمدخان دنده وي.

۵- د کابل یو استازی به په پېښور کې مېشت شي.

۶- له ایران سره د جګړې په پای ته رسېدلو سره به په لومړۍ ماده کې ښودل شوې پیسې بندې شي.

۷- کله چې په امیر پیسې بندې شي، انګلیسي منصبداران به افغانستان پرېږدي. خو که اړتیا پېښه شوه، نو یو مسلمان استازی به یې په کابل کې پاتې وي.

۸- امیر دوست محمدخان به انګلیسي افسران له افغانستان څخه د وتلو پر مهال او افغانستان ته د ننوتلو پر مهال په ډاډمنه توګه ساتي او همېشه به یې څاري.

۹- د پیسو د ورکولو د پیل نېټه له جنوري میاشتې څخه ده.

۱۰- په کندهار کې ورکول کېدونکې درې لکه روپۍ او په کابل کې دوه لکه ورکول کېدونکې روپۍ، دغه تړون کې نه راځي، بلکې دا د ختیزهند د کمپنۍ یوه مخکنۍ ورکړه ده. کابل کې شپږ لکه نورې ورکول کېدونکې پیسې د یوه بل مقصد لپاره د یو بل تړون له مخې دي.

۱۱- دغه تړون د انګرېزانو او امیر دوست محمد خان تر منځ د ۱۸۵۵ کال د دیرشمې نېټې تړون نقض او له منځه نه وړي. امیر دوست محمد خان د سولې او جګړې پر مهال د ایران او د هغه د ملاتړ وراندیز، چې رارسېږي د انګلیس دولت ته به خبر ورکوي.

۱۲- له هغو ۴۰۰۰ ټوپکو څخه پرته، چې پخوا ورکړل شوي دي، څلور زره به هم د انګرېزانو له خوا تل په سیمه کې د امیر دوست محمدخان مامورینو ته وسپارل شي.

ددغه تړون په لاسلیک سره امیر دوست محمدخان یو ځل بیا انګرېزانو ته د افغانستان په چارو کې د لاسوهنې لاره پرانیسته او په دې تړون سره یې په راتلونکې کې انګرېزانو ته نفوذ او لاسوهنې اسانتیا په لاس ورکړه. دا ځکه چې امیر دوست محمدخان تل په سیاست کې پردیو باندې ډډه لګوله، خود

په لاس ورکړه. دا ځکه چې امیر دوست محمد خان تل په سیاست کې پردیو باندې ډېره لګوله. خو د افغانستان په ملت یې ډېره ونه لګوله. هغه د هېواد د راتلونکو ګټو له اړخه کل کولو څخه او د سیاسي پوهې او پېښېنې څخه غافله و امیر له دغه تړون څخه وروسته کابل ته راستون شو او خپل خلف امیرشیرعلي خان ته یې یو بل اغزي هم وکاره.

ددغه تړون سره سم انګرېزان د ۱۸۵۷ کال په مارچ کې د انګرېزانو استازي د پکتیا د شترګردن له لارې غزني ته راغلل او له هغه ځایه د اپریل په ۲۲مه میجر هنري لمسون او ډاکتر ډبلیو کندهار ته او غلام حسین کابل ته راورسېدل. یو شمېر نور انګرېزان غلي غلي بلخ ته هم ولاړل. په دې حال کې جیمز او ترم او د هغه لښکریان په ایران باندې ورغلل او یو شمېر یې ونیو او د همدې کال په مارچ کې قاجاري حکومت د پاریس د تړون له مخې د هرات پرېښودل ومنل او ایراني پوځ هرات څخه ووت. په عین زمان کې سردار سلطان احمد خان، چې دوه کاله مخکې دامیر په امر سره کندهار څخه ایران ته تبعید شوی و او هلته مېشت و. د ناصرالدین شاه قاجار له حکومت سره په یوه دوستانه مذاکره کې هرات ته راستون شو او خلکو ورته ښه هر کلی ووایه او د هرات چارې یې په خپل لاس کې واخیستې. خلکو ته دغه مجاهد سړي ګران و. خو امیر دوست محمد خان هغه ته د دښمن په سترګه کتل او انګرېزان هم د هغه د تیر وخت د جهاد له لامله ورڅخه ویرېدې. نوانګرېزانو هڅه وکړه، چې هغه د خپل دوستۍ په لومه کې راچوي او بیا هرات له افغانستان جلا کړي. په همدې موخه یې په ۱۸۵۷ کې د میجر تیلر په مشرتابه یو سیاسي پلاوی هرات ته واستاو. دغه هیئت تر ۱۸۵۸ پورې هڅه وکړه، چې سلطان احمد خان پخلا او خپلې اغېزې لاندې راولي، خو دا کار ممکن نه شو، سردار چې د انګرېزانو یو کلک دښمن و، له انګرېزانو سره یې له اړیکو ساتلو څخه ځان ساته او دغه پلاوي یې بېرته ورستون کړ، خو ددې په وړاندې یې د (خانیکوف) مشرۍ لاندې ظاهراً یوه علمي پلاوي ته ډېر تود هر کلی ووایه او په هرات کې یې د خانیکوف دغه هیئت خپل حضور ته ومانه او وروسته خوورځو یې بېرته رخصت کړ. همدا رنګه سردار د ایران له قاجار حکومت سره هم خپلې دوستانه اړیکې وساتلې، چې دغه حکومت له انګرېزانو سره مخالفت څرګند اوه.

تر دې مهال پورې لا انګرېزانو د سردار سلطان احمد خان په وړاندې کومه چاره نه وه سنجولې، چې په هندوستان کې یوې ویروونکې پېښې سره مخامخ شول او هغوی هلته څو کاله بوخت پاتې شول او امیر دوست محمد خان هم د قطغن د خلکو له پاڅون او د بخارا د پاچا امیر مظفر خان له نظامي حرکاتو سره مخامخ او بوخت شو او د هرات لورې ته وزګار نه شو. په همدې ۱۸۵۷م. کال کې یو شل کلن کونړی ځوان، چې سید جمال الدین نومید د امیر دوست محمد خان له دربار سره یو ځای شو، خو دغه دربار داسې دربار نه وو، چې د افغانستان د لایقو خلکو له لیاقت څخه د افغانستان په ګټه کار واخلي، په هر حال، کله چې د هندوستان د ملي او تاریخي انقلاب سپرغۍ بلې شوې، د افغانستان خلکو او بېلابېلو طبقاتو له امیر دوست محمد خان څخه هیله وکړه، چې د دښمن په وړاندې پوځ چمتو او د سند د غاړو له لاسه وتلي افغاني ولایتونه بېرته ترلاسه کړي. دا ځکه چې په پنجاب کې د انګرېزانو هېڅ کوم پوځ نه و

Scanned by CamScanner

پاتې او د پنجاب ګورنر لارنس خپله د انګلیس حکومت ته وړاندیز وکړ، چې د پېښور ولایت او د دغه اړوند سیمې باید د افغانستان دولت ته ورکړل شي.

امیر عبدالرحمن خان په خپل (پندنامه دنیا و دین) کتاب کې په ۷۲ مخ کې (چې یوه نسخه یې په خپله د امیر په قلم په لاسکښلې بڼه د کابل په موزیم کې شته) د امیر دوست محمد خان د زوی سردار محمداعظم خان له خولې په صادقانه توګه دغه موضوع داسې بیان کړې ده:

... زما تره (محمداعظم خان) بامیان ته ولاړ. ما د هغه په درناوي ټول لښکر مخې ته ورته راوویست او زه یې هم لیدلو ته ورغلم. هغه ماته د انګرېزانو د ناوړه چلند او د لارې د ستونزو په هکله ډېرې کیسې وکړې او ویې ویل، چې په دغه پلاني ملاقات کې، چې زه له خپل خدای بخښلي پلار (امیر دوست محمد خان) سره جمرود ته تللی وم او د خپل پلار د دوستۍ واسته (واسطه) شوی وم، چې د هندوستان د بلوا (د هند د ۱۸۵۷ کال انقلاب) پر مهال څومره. چې زما پلار ته خلکو وویل. چې: هم تاسې نیک نامي کېږئ او هم پنجاب لکه د پخوا په شان د افغانستان تر واک لاندې راځي. او همداسې کېدل هم که چېرې په هغه وخت کې د مرحوم امیر حکومت کړی وای، نو هېڅ شک نه و، چې پنجاب د افغانستان کېده، ما خپل پلار ته وویل. چې تا د دوستي ژمنه کړې (له انګرېز سره) اوس بدنامه کېږې، که دغه ولایتونه ونیسې. په ټوله نړۍ کې دې نوم بد ېږي. نو ځکه زما پلار خلک له شر و شور څخه منع کړل زه په هغه فکر سره هندوستان ته ولاړم (له امیر شیرعلي خان څخه یې ماتې خوړلې وه) خو کله مې چې کتل نو انګرېزانو فرصت ته کتل او دوستي یې کوله، نه یې دوستي کلکه وه. نه یې دښمني له بنو څخه سوات ته ولاړم او له...

له امیر څخه پنجاب ته د لښکر د لېږلو په غوښتنه کې د افغانستان ټول خلک، مشران، مخور، روحانیون، اشراف او ملکي او نظامي افسران ټول یوه خوله او یو لاس وو، آن دا، چې د پېښور پخوانیو حاکمانو او د امیر دوست محمد خان ورونو سردار سلطان محمد او سردار پیر محمدخان هم همدا غوښتنه کوله، خو امیر دوست محمد خان چې نه غوښتل د انګرېزانو په وړاندې توره وکاږي، یواځې د خپل یوه زوی (محمداعظم خان) خبره ومنله او په خپل ځای د یوه ننداره کوونکي په توګه وچ کلک کښېناست او د افغانستان خپلواکۍ او د ځمکنۍ بشپړتیا یو ډېر ښه وخت له لاسه ووت.

انګرېزانو. چې تر هر چا څخه امیر دوست محمد خان ښه پېژندلی و، نو په هند کې یې آن د خپلو شتون پر مهال افغانستان ته د پېښور د ولایت د بېرته ورکولو په هکله د لارنس وړاندیز ونه مانه، په دې توګه افغانستان د خلکو غوښتنې ځکه تر سره نه شوې، چې دوی په دې عقیده وو. چې د دښمن په وړاندې جهاد پرته د امیرالمؤمنین له حکم څخه ناروا دی. ددې حالاتو په وړاندې انګرېزانو ولیکل چې:

... د انګرېزانو ژمنو ته د امیر دوست محمد خان دغې وفادارۍ د ۱۸۵۷ کال د ناولي پاڅون (د هندوستان د ملي انقلاب) په ترڅ کې انګلیس هند له لوی کړکیچ څخه وژغوره، که نه د امیر یواځې یوې کلمې کولای شول. چې ټول افغانستان د ولولو په څپو کې د پېښور په بدایو درو، دیره جاتو ور مات

کړې او دغه سیمې بېرته افغانستان ونیسي، خو هغه دغه (کلمه) په خوله رانه وړه.[۱]

د امیر دوست محمد خان د دغې بېرته تو پېړۍ او لټې په سیوري کې انګریزانو وکولای شول، چې د هند انقلاب تر ۱۸۵۸ پورې غلی کړي. د همدې کال په پسرلي کې لمسدن او بېلو له کندهار څخه هند ته ستانه شول. په بل کال (په ۱۸۵۹م) کې په تخار او بدخشان کې د امیر دوست محمد خان د ادارې په ضد خو ځو پاڅونونه وشول.

د قطغن یوه لوی فیوډال (میر اتالیق خان) له دغې ګډوډۍ څخه ګټه پورته کړه د تخارستان او بدخشان د پاڅونونو په سر کې ودرېد. امیر دوست محمد خان تر ۱۸۶۰ کال پورې د خپل زوی او لمسي (سردار محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمن خان په زور سره په اندراب، غوري، تالقان او رستاق کې دغه پاڅونونه ډېر کلك کلك وځپل او د تالقان کلا یې له خاورو سره خاورې کړه او د بدخشان فیوډالان (لکه میر یوسف علي خان درستان حاکم او میرشاه خان د فیض آباد حاکم) یې ځان ته تابع کړل. همدا رنګه د بلخ پوځ وکولای شول، چې د آمو تر غاړې په یوه سرحدي جګړه کې د بخارا ځواکونه ښه وځپي او له آمو ئخه یې پورې باسي.

## د هرات الحاق

نو د هرات واکمن سردار سلطان احمد خان، چې د امیر دوست محمد خان په پرتله یې ځان د افغانستان د سلطنت وړ او مستحق باله. په ۱۸۲۱م. کې د لښکر په ایستلو سره فراه ونیوله او په کندهار باندې د برید لپاره یې هم ځان چمتو کړ او غوښتل یې، چې ځانته د کابل لاره پرانیزي. البته د دغه سرې واکمن کېدل نه یوازې دا، چې د امیر دوست محمد خان د سلطنت د پرځېدو لامل کېدل، بلکې د هندوستان انګلیسي حکومت ته یې ډېره کلکه ویره پیدا کوله، انګلیس دولت چې عملاً د افغانستان له نیولو څخه نا هیلی او بې برخې شوی و. نو له بدې ورځې اړ وت، چې په افغانستان کې ځانته یو دوست دولت (د امیر دوست محمد خان دولت) ته ستونزې پیدا نه کړي او په دې توګه په دغه هېواد خپل اغېز وساتي، د بېلګې په توګه مخکې لا لارد کننګ د انګلیس دولت ته دغه نظر ورکړی و، نو ځکه د امیر دوست محمد دولت له دغه فرصت څخه لکه د کندهار د الحاق کولو په شان ښه پوره ګټه اوچته کړه او په هوښیارۍ او خپلو ټولو ځواکونو (۱۲ زره عسکرو او ۳۲ توپونو) سره یې د هرات په لوري حرکت وکړ، ترڅو امیر تر کندهار پورې ورسېد. د هغه پیشدار فراه نیولې وه، امیر په ۱۸۲۲ کې د هرات ولایت ته ورسېد، سردار سلطان احمد خان هرات ټینګ کړ او ځان یې یوې اوږدې جګړې ته چمتو کړ. د دوو نابرابرو ځواکونو تر منځ جګړه د ۱۸۲۲ له اګست څخه پیل او د ۱۸۲۳ کال د مې تر میاشتې پورې یعنې لس میاشتې وغځېده. په دغه موده کې له ایران څخه د انګلیس استازي استوبك امیر دوست محمد خان ته په رسمي توګه خبر ورکړ، چې د هرات په جګړه کې، چې د افغانستان یوه کورنۍ پېښه ده

۱. افغانستان، د تتلر اثر.

کار نه لري. د ایران حکومت د ۱۸۵۷ کال د پاریس له تړون سره سم هېڅ ډول مداخله نشي کولای امیر دوست محمد خان د هرات په کلابندي او د کاختې په راوستلو ډېر زور واچاوه. خو سردار سلطان احمد خان داسې مېړه نه و، چې توره له لاسه وغورځوي، هغه له ښار څخه بهر د امیر په پوځونو پسې ګوزارونه کول او بېرته به ښار ته ورګرځېد. دا مهال د سردار میرمن، چې د امیر لور وه مړه شوه (د ۱۸۶۳ کال جنوري) او د دواړو اړخونو تر منځ یوه لنډه ډزبندي وشوه او جنازه په ګازرګاه کې خاورو وسپارل شوه. د امیر زامنو په مړي او جنازه کې ګډون وکړ، خو په خپله امیر د خپلې لور په ویر کې ګډ نه شو، جګړه بیا پیل شوه، سردار سلطان احمد خان د ۱۸۶۳ کال د اپریل په شپږمه د یوې سختې ناروغۍ له لامله مړ شو، ددغه سردار جنازه هم لکه دده د میرمنې په شان وه، خو جګړې بیا دده د زامنو (شهنواز خان، سکندر خان او عبدالله خان) په لاس دوام وموند. په پای کې د ۱۸۶۳ کال د مۍ په میاشت کې د ښار دروازه د امیر دوست محمد خان پر مخ پرانیستل شوه او په دې کار سره هغه د موجوده افغانستان سیاسي یووالی ډاډمن کړ. امیر دوست محمد خان، ۱۸۶۳ کال د جون په میاشت کې په هرات کې مړ شو. د امیر له مړینې وروسته دده د زامنو تر منځ د سلطنت د تخت د ترلاسه کولو لپاره څو کاله جګړې روانې وې، تر څو چې په پای کې شیرعلي خان واک ته ورسېد. په دغه وخت کې د هرات مالیات په کال کې نیم میلیونه روپۍ و، حال دا، چې د وزیر یار محمد خان پر مهال نهه لکه روپۍ مالیات د سیستان او همدو مره هم د غور د ولایت مالیات وو، چې هرات ته سپارل کېدل.

## د امیر شیرعلي خان د سلطنت پر مهال (۱۸۶۳– ۱۸۷۸)

افغانستان د نیمې پېړۍ په ترڅ کې د محمدزایي ورونو د واکمنۍ په دوره کې له پیل څخه د امیر شیرعلي خان تر وخته پورې دیوې خانداني ملوك الطوایفي ادارې لاندې خپل شوی و او بزګران د فیوډالي کلك فشار لاندې وو، نو په داسې یو وخت کې د کورني اخ او ډب لپاره لاره ښه هواره وه. سیالو فیوډالانو او اشرافو له دغې موقع څخه ډېره ښه استفاده کوله او کورنۍ شخړې یې جاري ساتلې او مرکزي دولت یې کاواکه کړی و.

په افغانستان کې انګرېزي استعماري سیاست هم زاړه فیوډالان او د هېواد دګډوډیو خوښول او دهغه ملاتړ یې کاوه او په خپل ډېر ښه شکل سره یې یواځې د یوه نظامي بوروکراتیك سیستم ملاتړ کاوه او بس. انګلیسانو په داسې حال کې، چې د افغانستان ټولې بهرنۍ لارې یې خپل واك کې راوستې وې او افغانستان یې د سمندر له غاړو را لرې کړی او محدود کړی و په پرله پسې توګه یې د افغانستان سوداګري په لاس کې نیولو او د سیمې په چارو کې د اغېزمند کېدو په خاطر هڅې کولې. امیر شیرعلي خان په داسې یو وخت کې د افغانستان پر تخت کښېناست. چې انګرېزانو مخکې دده په پلار باندې یوه سترد جګړه او ملا ماتوونکي تړونونه زغملي وو (او یوه سیاسي او اقتصادي کړنه یې ورباندې راتپنګه کړې وه) او لا هم همدې سیاست دوام درلود.

همدا رنګه امیر شیرعلي خان د هېواد دننه یو ډله ورونه او وریرونه لرل، چې د افغانستان په ټولو

ولایتونو حاکمان او واکمنان وو او د هېواد هره یوه برخه یې خان خان ته پلرنی میراث باله. په دې توګه افغانستان د امیرشیرعلي خان پر مهال له څوبېلا بېلو پړاوونو څخه تیر شو دغه پړاوونه درې وو. د شاهي کورنۍ تر منځ جګړې او ګډوډۍ پړاو، د مرکزي دولت د ټینګښت او ټولنیز ریفورم پړاو او پر افغانستان باندې د انګرېزانو د یوه بل سیاسي او نظامي تیري پړاو.

## د کورنیو جګړو دوره

امیر شیرعلي خان په کورني سیاست کې د دولت د مرکزیت ټینګښت او د نوي تمدن خپرېدل او په بهرني سیاست کې د افغانستان خپلواکي غوښتله. هغه ډېر ژر احساساتي کېدونکی او خود رایه سړی و، هغه نشو کولای، چې د ستونزمنو پېښو په حل کې په سړه سینه چلند وکړي. امیر شیرعلي خان د پلار له مړینې څخه وروسته د ۱۸۶۳م. کال د جون پر دولسمه په هرات کې په ۴۱ کلنۍ کې هغه مهال، چې د خپل پلار ولیعهد و، خپله پاچاهي اعلان کړه. خو ورونو یې دغه اعلان لا د مخه ونه مانه او له ده سره یې مخالفت پیل کړ. سردار محمد افضل خان مشر ورور د بلخ او د میمنې والي، د هغه زوی سردار عبدالرحمن خان د تخارستان او بدخشان والي، د پکتیا والي او د امیر بل مشر ورور سردار محمداعظم خان ټول په هرات کې وو. د فراه والي سردار محمدشریف خان، د کندهار والي سردار محمدامین خان او د مرکزي سیمو او هزاره جات والي سردار محمد حسین خان و. کله چې شیرعلي خان نوَ په کابل را روان شو، نو سردار محمد اسلم خان یې مخې ته هزاره جات ته او سردار محمداعظم خان یې مخې ته په زرمت کې ودرېدل، خو د هزاره جاتو خلکو د امیر شیرعلي خان پلوي وکړه، د هغه ناسکه ورونه سردار محمد اسلم خان، محمد حسین او محمدحسن خان یې کلابند کړل، خو د سردار محمد افضل خان د ځواکونو یو سپور غونډ له بلخ څخه راورسېد او دوی ټول یې وژغورل او بلخ ته یې بوتلل.

کله، چې امیر شیرعلي خان کندهار ته راورسېد، سردار محمد امین خان یې ښه هر کلی ونه کړ او د غزنې پې لوري د تګ په وخت کې یې ورته د آذوقې په رسولو کې مرسته ونه کړه. همدا رنګه د ۱۸۶۳ کال د دسمبر په میاشت کې امیرشیرعلي خان له کابل څخه هند ته د خپلې پاچاهۍ په هکله خپل اعلان راستاوه، خو انګرېزانو تر شپږو میاشتو پورې یو تشریفاتي ځواب هم ورنه کړ. له همدې وخت څخه امیر د دوو کورنیو او بهرنیو جبهو د موجودیت احساس وکړ. خو شپږ میاشتې وروسته، چې کله د سعادت خان مجاهد زوی سلطان محمد خان د مهمندو مشري ترلاسه او د انګرېزانو په وړاندې یې پاڅون وکړ، نو انګرېزانو امیرشیرعلي خان ته مخ واړاوه. امیر مومند د پوځ په زور غلي کړل. سلطان محمدخان باجوړ ته ولاړ او انګرېزان ډاډه شول. دا مهال محمدرفیق خان لودي، چې د امیر شیرعلي خان استازی و، انګرېزانو سره یې دوستانه کتنه وکړه او بېرته راستون شو، خو سره له دې هم انګرېزان د امیر په وړاندې بې پامه پاتې شول. په کابل کې د سردار اعظم خان زوی سردار محمد سرور خان او د وزیراکبرخان زوی سردار جلال الدین د امیرشیرعلي خان د وژلو لپاره په یوه توطئه بوخت شول، خو امیر ورباندې پوه شو او یو یې مزار ته او بل یې زرمت ته تبعید کړل. په خپله امیر په زرمت

Scanned by CamScanner

کې د خپلو مخالفینو ټکولو ته یو لښکر واستاوه. هلته سردار محمداعظم خان هندوستان ته وتښتېد او په هند کې انګرېزانو ورته هر کلي ووایه او د ورځې سل کلداري معاش یې ور مقرر کړ. دا انګرېزانو لپاره د افغانستان دننه د اختلافاتو د پیدا کولو یو ډېر ښه فرصت وګرځېد. محمداعظم خان تر هغو پورې مخالفت ته دوام ورکړ تر څو چې له منځه ولاړ د زرمت له ټکولو او کړارولو وروسته د بلخ وار ورسېد، چې په ۱۸۶۴ کې په خپله امیر شیرعلي خان د لښکر په سر کې ورغی تر څو سردار محمدافضل خان مالیې ورکولو ته اړ کړي. د امیر پیشدار د باجګاه په سیمه کې سردار محمدافضل خان ته ماتې ورکړه، خو د یوه تړون له مخې امیر ته تسلیم شو. امیر بلخ ته ولاړ، خان یې ډاډه کړ او بېرته راستون شو. په لاره کې یې سردار د تړون له موجودیت سره سره بندي کړ، نو د هغه زوی سردار عبدالرحمن خان بخارا ته وتښتید.

په ۱۸۶۵ کې امیرشیرعلي خان د کندهار د غلي کولو لپاره پوځ ور واستاوه، خو سردار محمدامین خان یې مخې ته راووت او د کلات او کندهار تر منځ د دواړو تر منځ جګړه ونښته. په دغو جګړو کې د امیر زوی سردار محمدعلي خان له خپل تره سردار محمدامین خان سره یو ځای ووژل شول. په جګړه کې اته زره کدهاړي سرتېري هم ووژل شول. ددې پېښې په لیدلو سره امیر خپل اعصاب له لاسه ورکړل. کندهار ته ولاړ او ځان یې انزوا کې ګوښه کړ. سردار محمداعظم خان په بېړه له هندوستان څخه د چترال او بدخشان په لاره قطغن ته راغی او سردار عبدالرحمن خان له بخارا څخه ورسره یو ځای شو. دواړو لاس سره یو کړ او په کابل یې برید وکړ. د امیر زوی سردار محمدابراهیم خان ماتې وخوړه او کابل ونیول شو. سردار عبدالرحمن خان خپل پوځونه سمبال کړل او د غزني په لور ورغی. هلته امیرشیرعلي خان ورته راورسېد او جګړه پیل شوه. د سید آباد په جګړه کې پېنځه زره تنه له دواړو خواوو څخه ووژل شول او یو زر او شپږ سوه تنه ټپیان شول. د جګړې په ترڅ کې. د مهر دل خان کندهاري زوی سردار شیرعلي خان په خپله عسکري دنده کې غفلت وکړ، نو ځکه امیرشیرعلي خان له ماتې سره مخامخ او بېرته د کندهار خوا ته پر شا ولاړ. د هغه مستوفي مرزا عبدالرزاق په جګړه کې ونیول شو. د ۱۸۶۸م کال د مې په میاشت کې غزني د عبدالرحمن خان په لاس کې پرېوت او بندي کړل شوی سردار محمدافضل خان د افغانستان د پاچا په توګه اعلان شو. په دې توګه افغانستان کې دوه پاچایان وو او خلك د دوو دښمنو ډلو تر منځ ټکول کېدل.

امیر محمد افضل خان (له ۱۸۶۶ څخه تر ۱۸۶۷ پورې): کله چې دغه نا رسمي دولت په هند کې د انګلیس دولت ته د امیر محمد افضل خان د پاچا کېدو اعلان وکړ، نو هغوی ډېر ژر خواب ورته را واستاوه او مبارکي یې ورته وویله او دې پسې ډېر ژر لکه د امیر دوست محمد خان د دورې په شان د انګرېزانو یو استازی په کابل کې مېشت شو. حال دا چې افغانستان یو بل رسمي پاچا هم درلود او د خلکو د خوښې وړ و. امیر شیرعلي خان له کندهار څخه یو پوځ چمتو کړ او په کلات کې یې د سردار محمداعظم خان او سردار عبدالرحمن خان له لاسه ماتې وخوړه او هرات ته ولاړ. کندهار هم د همدې سردارانو لاس ته ولوید، امیرشیرعلي خان له هرات څخه بلخ ته ولاړ او په ۱۸۶۷ کې یې سردار فیض

Scanned by CamScanner

محمدخان سره یو ځای مخ په کابل لښکر ور وست سردار عبدالرحمن خان په پنجشیر کې د دغه لښکر مخه ونیوله او د بازارك په جګړه کې يې سردار فیض محمد خان مړ کړ. د امیر له لښکریانو څخه ۱۷۰۰ تنه مړه او تېپیان شول او هرات ته ولاړ.

## امیر اعظم خان (۱۸۶۷– ۱۸۶۸)

امیر محمد افضل خان د ۱۸۲۷ کال په اکتوبر کې په کابل کې مړ شو او پر ځای يې سردار محمد اعظم خان د نیمایي افغانستان پاچا شو سردار عبدالرحمن خان له یوه لښکر سره بلخ ته ولاړ. چې په وړاندې يې امیر شیرعلي خان هرات څخه کندهار ته راغی. د کندهار خلك د امیر محمداعظم خان د زامنو د ظلم له لاسه په تنګ شوي وو. ځکه یې د امیر شیرعلي خان ښه هر کلی وکړ. کندهار ورته تسلیم او د امیر محمداعرم خان زامن وتښتېدل. نورمحمد نوري د همدغې دورې هم مهالی تاریخ لیکوال د ګلشن امارت په نوم کتاب کې په کندهار کې د امیر محمد اعظم خان د زامنو د چلند په هکله داسې لیکي:

د سردار محمداعظم خان د زامنو (محمد سرور خان، محمدعزیز خان، چې په نادر سره یادېد او محمدعمر خان) د ظلم په ذکر کې. چې کله خبره د هلمند د سیند په ښې غاړې کې د زمیندار د موشك کلي ته ورسېده، نو لازمه بولم. چې په دغه برخه کې د دغو ګربه سیرتانو (دریو سردارانو) په هکله هم څه ولیکم: مصرع، ای تو مجموعه خوبی ز کدامت گویم (ته خو ټول ښایست او ښیګڼه یې زده دي کوم ښایست او ښه والي ووایم) بندی

له دې لامله، چې محمد سرور خان او محمد عمر خان د خپل پلار په امر په کندهار کې پاتې شول. دلته يې دومره ظلمونه وکړل، چې له ټولې سیمې څخه امن او امان کډه وکړه او وچ او لامده ټول د ظلم په اور کې وسوځول شول. کله چې اور ولګېږي نه وچ پاتې شي نه لامده. بندیخاني يې جوړې کړې او ښځې او نرېې پکې بندیانول او د پرو بندیانو ښځو د زنا له امله په دغو جیلونو کې ماشومان وزېږول. یو سړی، چې واده کړی و خپله ناوې يې کور ته بېوله. محمدعزیز خان دغه ناوې په زور سره ستنه کړه او... خپلو پوځیانو ته يې دومره زیات واك او اختیار ورکړی و، چې هېڅ ورڅخه پوښتنه نشوه کولی د پلټن او بوځ (کنډك) ټولې چارې د حرفوي کارګرانو او خلکو په بیګار ترسره کېدې او په یوه کوچنۍ بهانه به هم د رعیت کورونه لوټل کېدل... سردار محمد عمر خان یو زمینداوري ملا کندهار ته ور وغوښت او په توپ کې يې والوځاوه (دا ځکه چې هغه هغه عسکر وژلي وو، چې غوښتل يې دده پر میرمن باندې په زور تیری وکړي)...

کله، چې امیر شیرعلي خان کندهار ونیو په کابل يې برید پیل کړ او امیرمحمداعظم خان يې مخې ته د مقابلې لپاره ورغی، خو د هغه په نشتوالي سره محمد اسمعیل خان له چاریکارو څخه په کابل یرغل وکړ او خلك د امیر شیرعلي خان په نوم تسلیم شول. د کیچه مرسل په سیمه کې د امیر محمداعظم خان پوځیانو هم دده په ضد پاځون وکړ. امیر محمداعظم خان تخارستان ته وتښتېد او له سردار عبدالرحمن خان سره یو ځای شو. امیر شیرعلي خان لا کابل ته نه و رارسېدلی، چې امیر محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمن خان له نویو پوځونو سره د غزني په برید راوخوځېدل. امیر شیرعلي خان د ۱۸۲۸ کال په

Scanned by CamScanner

سپتمبر کې د ششګاو په سیمه کې له مخالفو ځواکونو سره جګړه وکړه او وزباندي بریالي شو دواړه سرداران بنو ته وتښتېدل او د هند انګلیس دولت هغوی ته بلنه ورکړه. چې په هند کې هغوی سره یو ځای مېشت شي، خو هغوی د سیستان له لارې مشهد ته ولاړل او له هغه ځایه سردار عبدالرحمن خان لومړی بخارا ته او بیا سمرقند ته ولاړ. سردار محمداعظم خان د تهران خوا ته ولاړ. خو د لارې په ترځ کې ناروغ او مړ شو به بسطام کې خاورو ته وسپارل شو. د محمداعظم خان زوی سردار محمداسحق خان هم له بلخ څخه ماورالنهر ته وتښتېد. په دې توګه د امیر شیرعلي خان په وړاندې دانګریزانو لاس د هغه د قوي مخالفینو له درلودلو څخه تش شو. ددې سرچپه د امیرشیرعلي خان سلطنت له دغه کال (۱۸۲۸) څخه تر ۱۸۷۸ پورې، وروسته له پنځو کلونو کورنیو جګړو څخه تر لسو کالو پورې کلك پاتې شو او په هېواد کې یې د اصلاحاتو فرصت وموند.

## د ریفورم دوره

په خپلواکو اسلامي هېوادونو کې نولسمه پېړۍ، یو د تولنیزو او سیاسي غورځنګونو پېړۍ وه. چې زیاتره د اروپایي استعماري تیریو او بریدونو په وړاندې ددیوه غبرګون په توګه رامنځته شول د بېلګې په توګه په ترکیه کې د همدغې پېړۍ له لومړۍ نیمایي څخه مدني او نظامي سمونونه (اصلاحات) پیل او ددغو پېړۍ په دوهمه نیمایي کې دغه اصلاحي پروګرامونه ترتیب او پیاوړي شول همدا رنګه په ایران کې د نولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې اصلاحي غورځنګونه پیل شول. سره له دې، چې دغه غورځنګونه کوم ځای ته ونه رسېدل او ددغو غورځنګونو لارښوونکي په دواړو هېوادونو کې لکه رشید پاشا، مدحت پاشاه او مرزا تقي ناکام شول او له منځه ولاړل. خو بیا هم د راتلونکي یوه تولنیز انقلاب لپاره لار هواره شوه. ددغو هېوادونو له دغو غورځنګونو سره ځای په افغانستان کې هم د نولسمې پېړۍ له دوهمې نیمایي څخه وروسته د سمون او اصلاحاتو لار پرانیستل شوه.
ددغو غورځنګونو له مخکښانو څخه یو یې سید جمال الدین و. چې په ۱۸۳۸ کې د کونړ په اسعدآباد کې زېږېدلی و او په ۱۸۵۷ کې د امیر دوست محمد خان دربار سره یو ځای شو. د امیر دوست محمد خان له مړینې وروسته هغه د امیر شیرعلي خان په دربار کې پاتې شو البته د امیر دوست محمد خان دربار ددغه انقلابي شخص د استفادې استعداد نه درلود. خو امیر شیرعلي خان یو څه داسې توانایي لرله، چې له دغه ډول څېرو څخه د هېواد په ګټه کار واخلي. سید په نولس کلنۍ کې دربار ته راغی او پنځلس کاله یې پاتې شو. په داسې حال کې. چې مخکې تر دې له ۱۸۵۵ څخه تر ۵۷م. پورې یې درې کاله هند، عراق، شام او حجاز ته سفرونه کړي وو او نوې فلسفه او اروپایي علوم یې زده کړي وو، خو د افغانستان په دربار کې د هغه پاتې کېدل، له هغو کلونو سره برابر شول، چې امیر دوست محمد خان او امیرشیر علي خان د هېواد د ولایتونو په سمبالولو او کورنیو جګړو په کرارولو بوخت وو، نو ځکه د سید نظریاتو او افکارو ته یې چندان پاملرنه او وخت پیدا نه کړ. کله چې تر پنځو کلونو هڅو څخه وروسته امیر شیرعلي خان وتوانېد، چې د هېواد امنیت لږ څه ډاډمن کړي. سیالان وشړي او

Scanned by CamScanner

شیرعلي خان و نه توانید. او د اصلاحاتو فرصت ترلاسه کړي. نو د یو شمېر سیاسي غرض لرونکو له خوا لکه محمد رفیق خان لودي او نورو په لاس او لمسون د امیرشیرعلي خان او سید ا پیکې ګډې ووړې شوې. دا ځکه سید د امیر دوست محمد خان پر مهال څه موده د سردار محمداعظم خان ښوونکی و او هغه په راتلونکي کې د امیر شیر علیخان لوی سیال وګرځید نوکله چې په ۱۸۲۸ کې دوروستي ځل لپاره سردار محمداعظم ماتې وخوړه او ایران ته وتښتید، نو امیرشیرعلي خان داسې وانګیرله چې سید به د سردار محمداعظم خان د پلویانو پناه ځای وګرځي حال دا. چې سید په کلکه سره د مرکزي دولت پلوی و او په هرات کې یې د امیر دوست محمد خان له مړینې وروسته په کلکه سره سردار محمد اعظم خان ته وویل- چې خپل کشر ورو امیر شیر علي خان ته بیعت وکړي

په هر حال. سید چې کله پوه شو. چې امیرشیرعلي خان په دې خوښ دی. چې دی له افغانستان څخه ووځي.نو خپل وتل یې ومنل او د امیر له امر سره سم یې دا ومنله. چې له ایران څخه به تیریږي. خو سردار محمداعظم خان سره به کتنه نه کوي. سید د کابل د بالاحصار په ارګ کې له امیرشیرعلي خان څخه د خپلې خدای پامانې په ورځ خپل ټول اصلاحي پروګرام او نظر. چې په یوه اوږده پرپړه کې یې لیکلی و. پاچا ته ورکړ. پاچا په خوښۍ سره هغه ومانه او په هېواد کې یې د هغې د تطبیق ژمنه ورسره وکړه

سید له هغه وروسته ایران. مصر. روسیې. عراق. لندن. اسلامبول. هندوستان. فرانسې او جرمني ته بلا بېل سفرونه وکړل او راز راز فعالیتونه یې ترسره کړل هغه د خپلو دغو فعالیتونو په لړ کې ځینې وخت تدریس کاوه. ځینې وخت یې کنفرانسونه جوړول. ځینې وخت یې مقالې. رسالې او جریدې لیکلې او ځینې وخت به یې دګوندونو او مبارزو په لړ کې د خلکو لارښوونه کوله. هغه د اروپاله علمي او نورو خبرو سره اړیکې لرلې او د ختیځ په کته یې فعالیت کاوه. سید په افغانستان کې چې د ملوك الطوایفي تر سیستم لاندې دل شوی و. پیاوړي مرکز دولت غوښت. په ایران او ترکیه کې. چې هلته مرکزي دولتونه موجود وو. هلته یې دیموکراتیك رژیم غوښتل. په هندوستان او مصر کې یې. چې د ښکېلاك تر پوندو لاندې دل شوي وو. ملي او ښکېلاك ضد مبارزې پیل او په افریقایي او آسیایي اسلامي هېوادونو کې یې د اروپا د تیري کوونکو په وړاندې د ځواکونو د تمرکز لپاره کار وکړ او د (پان اسلامیزم) شعارونه یې ورکړل. دغه د ختیځ عالم او اسلامي فیلسوف یو فاضل لیکوال او ادیب، یوه سیاسي وتلې څېره. یوه انقلابي شخص او یو پاك او زړور وینا کوونکی اوتکړه خطیب و. چې د اروپا د علمي او سیاسي مرکزونو ژوره پاملرنه یې ځانته راواړوله. هغه له هرې مستعمرې او هر استبدادي حکومت څخه وشړل شو او د مستبدو او ظالمو پاچاهانو ملا به ددغه سړي له ویرې ربږدېده، چې پرته له کتاب. قلم، یوې چینې او پټکي څخه یې نور څه نه لرل. د ایران ظالم پاچا ناصرالدین د همده د یوه شاګرد په لاس ووژل شو داکتر تقي اراني (ایراني) په دې هکله داسې لیکلي و

... د سیاسي انقلاب تخم هم د مرزا اقاخان کرماني او سید جمال الدین افغاني او نورو په لاس وکرل شو. چې غوږ یې د لومړي ځل لپاره د ناصر الدین شاه د قاتل مرزا رضا کرماني د ډزو په واسطه اوچت

شو او بیا د مشروطه غوښتنې په غړونو سره پای ته ورسېد.[۱]"
همدا رنګه سید په هند، مصر او ترکیه کې یو شمېر نوي سیاسي غورځنګونه جوړ او په پای کې دغه افغاني ستره څېره د ۱۸۹۲ کال د مارچ په نهمه په اسلامبول ښار کې ناروغ او د یوه شکمن طبیب په درملنه د ۵۸ کالو په عمر وفات شو او د ترکیې د ګڼ شمېر خلکو په ګڼه ګوڼه کې په درناوي سره د شیخانو په هدیره کې خاورو ته وسپارل شول، چې د خلکو د زیاتې ګڼې ګوڼې او د جنازې د بدرګه کوونکو د شمېر د زیاتوالي له لامله ۱۸ تنه تر پښو لاندې شول. د سید مزار په ۱۸۲۴ کې د مستر چارلز ګیرین (په چین کې د امریکې د پخواني سفیر) له خوا د سید هډوکي په ۱۹۴۴م کې افغانستان ته راوړل شول او په کابل کې خاورو ته وسپارل شو.
کله، چې امیر شیر علي خان خپل سلطنت ټینګ کړ، په افغانستان کې یې د اصلاحي پروګرام تطبیق کول پیل کړل او د لسو کالونو په ترڅ کې یې د اقتصادي کلتوري. پیشه ورې وسلې جوړولو او ځارویو روزنې په چاره کې پاملرنه وکړه، له دې لامله چې د دولت هڅو په هیواد کې امنیت ټینګ کړی و. د لارو جوړول هم پر مخ ولاړل او سوداګریزې آسانتیاوې رامنځته شوې. دغې دورې ته په کتنې سره ویلای شو. چې د افغانستان په فیوډالي ټولنه کې د لومړي ځل لپاره د پانګوالي د زرغون کېدو د زړي شنه کېدو زمینه چمتو شوه. امیر شیر علي خان د هېواد د کرنیزو تولیداتو پرمختیا ته هم پاملرنه وکړه. هغه په بزګرانو باندې د حکومت د رسمي مالیاتو درونډ بار لږ سپک کړ. د امیر شیرعلي خان د مهال لیکوال مرزا یعقوب علي خان خافي د (پادشاهان متاخر افغانستان) په نوم تاریخ (لومړی ټوک) کې لیکي: پخوا به د ځمکو د راتلونکو مالیاتو دریمه برخه د کال په لومړیو درې میاشتو کې مخکې تر مخکې اخیستل کېده، یعنې په پیشکي ډول به د دولت له خوا حواله او بیا به تحصیل کېده، حال دا چې د ځمکو حاصلات به درې میاشتې وروسته اخیستل کېدل، همدا رنګه د دولت د سپاهیانو او مامورینو معاشونه به هم په مالیه ورکوونکو باندې حواله کېدل او په ظلم او فشار سره به له خلکو ترلاسه کېدل. د مالیاتو ټولول به د نظامي محصلینو او زسمي تحصیلدارنو له خوا ترسره کېدل. دا بار به ټول د بزګرانو ا کروندګرو په اوږو و. همداسې هم په ښارونو کې کسبه کار او پیشه ور او نور خلک د سپاهیانو تر زور لاندې او د اردو افسرانو به بیګار وریاندې کاوه. دغه چلند د بزګرانو او پیشه ورانو د کړاو لامل شوی و، نو ځکه د کرنې د پرمختګ په برخه کې یو خنډ و.
امیر شیرعلي خان یو شمېر مناشیر (فرمانونه) او دساتیر (حکمونه) وضع کړل، چې: د ځمکو مالیات به د حاصلاتو د ټولولو تر مهال پورې مخکې له مخکې نه اخیستل کېږي کله، چې حاصلات ټول شول، په خپله مالیه ورکوونکي به راځي مالیه به تحویل او رسمي سند به ترلاسه کوي، خو محصل او تحصیلدار به مالیه ورکوونکو پسې نه ورځي، د دولت د مامور، عسکر او افسر معاشات په مالیه ورکوونکو نه حواله کېږي، بلکې دغه معاش به په نغد ډول د دولت له خزانې څخه ورکول کېږي. همدا رنګه وروسته تر دې به د دولت سپاهیان د هېواد د ښارونو دننه نه اوسېږي، یعنې د اردو د اوسېدو دایمي ځای به له

---

۱- د علم الروح کتاب، د ډاکتر تقي ارانې تألیف، د ایران د ۱۳۳۰ش- کال چاپ ۲۰۴مخ.

Scanned by CamScanner

ښاروالو څخه بهر وي، تر څو په خلکو باندې ظلم ونه شي. کله، چې امیر شیرعلي خان د کابل په شمال کې د شیرپور د کلك ښار بنسټ په ۱۸۷۰ م. کال کې کېښود له پېنځو کالو څخه د زیات وخت لپاره هره ورځ شپږ زره تنو کارګرانو او څه نا څه زر تنو معمارانو، خټګرانو او ترکانو هلته کارونه کول. د کار داستادانو معاش به هره ورځ ورکول کېده، خو د کارګرانو معاشونه (چې عسکر وو) په میاشت کې یو ځل ورکول کېدل. چې د دوی د اصلي معاش پېنځه روپۍ زیات شوی و او د دولت له خزانې څخه په نغدې بڼه ویشل کېده، حال دا چې پخوا به د ودانیو او لارو جوړول ټول په اجباري (بیګار) بڼه وو او د بزګرانو او نورو خلکو په خولو تویولو به ترسره کېدل. دغه ښار په دوه زره جریبه ځمکه کې د بي بي مهرو د غونډۍ شا و خوا کې د بهرنۍ او یوه دننه دیوال په لرلو سره، چې شل فټه لوړوالی یې درلود پیل شو او په هغه کې یوه نظامي چونۍ هم وه، دیوالونه یې دومره پلن وو، چې یو توپ وربانديې ګرځېدلی شو او څنې د پیلانو په پښو پخېدلې. خو لا دغه ښار نه و جوړ شوی او ختیز او لویدیز دیوالونه یې نه و جوړ، چې دافغان- انګلیس دوهم جنګ پیل شو. نو ځکه شیرپور نیمګړی پاتې شو او وروسته وروسته یا پسې بېخي ړنګ شو.

له دې څخه وروسته امیرشیرعلي خان خپله پاملرنه د دولت د دستګاه نظم او د اجرائیه ځواك سمبالولو ته واړوله. په ۱۸۷۴ کې یې اجرائیه قوه کې لاندیني وزیران وو:

- صدراعظم (سید نورمحمد شاه قوشنجي، (وروسته له مړینې څخه په ۱۸۷۷ (مستوفي حبیب الله صدراعظم شو)
- حربیه وزیر (سپه سالار حسین علي خان)
- د بهرنیو چارو وزیر (ارسلا خان غلجایي، وروسته د هغه له مړینې په ۱۸۷۷ کې مرزا شاه محمد خان وثاکل شو.)
- دکورنیو چارو وزیر (عصمت الله خان- حشمت الملك)
- د مالیې وزیر (مستوفي حبیب الله خان وردګی)
- د خزانو وزیر (احمدعلي خان تیموري)
- د پاچا سرمنشي (مرزا محمد حسین خان دبیرالملك)

د حکومت دنویو ادارو په لړ کې یوه هم د ډاك او مخابراتو اداره وه، چې په مختلفو ولایتونو کې فعاله شوه او په پېښور کې یې هم یوه څانګه پرانیستل شوه. د دولت په شورا کې ۱۲ تنه غړي وو، چې د پاچا له خوا په دایمي توګه په انتصابي بڼه ګومارل کېدل. د خافي په وینا دغې شورا دنده لرله، چې د هېواد په ټولو چارو کې غور وکړي او خپل نظرونه ورکړي، له دغو تشکیلاتو څخه پرته، د لومړي ځل لپاره امیرشیرعلي خان د مشورتي لویو جرګو جوړول په ځینو ځانګړو حالاتو کې پیل کړل. خافي لیکي، چې لومړنۍ لویه جرګه د امیر شیرعلي خان له خوا په ۱۸۲۵ کې د ټول افغانستان د ټولو خلکو او قومونو په استازیتوب د ۲۰۰۰ تنو په ګډون جوړه شوه، چې د امیر دوو ورونو (لکه سردار امین خان او سردار محمدشریف خان) د مخالفت په هکله غور وکړي او پرېکړه وکړي، چې آیا امیر باید له دوی سره څه ډول

چلند وکړی. د دغې جرګې مشرتوب په خپله د پاچا په غاړه و. د جرګې له پرېکړې سره سم امیر وروسته تر یو لنډ کلي احصار څخه کندهار ته یوځ واستاوه او هلته سردار محمد امین خان د ده د وروره جګړه کې ووژل شو او کندهار د ده په لاس کې شو. د کلنور په برخه کې امیر شیرعلي خان او وه ښوونځي جوړ کړل یو یې ملکي او بل یې نظامي و. او د کابل په بالاحصار کې یې د میرزا عبدالعلي خان په لارښوونه سره یو د لیتوګرافۍ مطبعه جوړه کړه. په همدغه مطبعه کې په ۱۹۷۵ کې د افغانستان لومړنی او د پېرې نامو جریدې (شمس النهار) په ۱۲ مخونو کې په میاشت کې دوه یا درې ځله خپرونې پیل کړې. په بهر کې د دغې جریدې استازی په پېښور کې د افغانستان د ډاکخونې مهتمم حاجي محمد حسین خان و. د عسکري برخې په اړه رسالې او د پستي ټکټونه هم په همدغه مطبعه کې چاپ شول. حال دا چې پخوا به د اړتیا وړ کتابونه یا د قلمي نسخو په بڼه وو. یا به هند کې چاپ کېدل. د افغانستان نظامي چارې بر مخ ولاړې او افغاني اردو تر نظم و دسپلین لاندې راوستل شوې سره له دې. چې دغه اردو له سوو الحبشي پلوه ډېر ابتدايي و او تشکیلات یې له غونډ څخه پورته نه و. خو بیا یې هم ورو ورو د الجیشي بڼه مخ په ښه کېدو وه او د ریو برلګیو ایلې. سپاره او توپچي په بېلا بېلو ځایونو کې په مهم نظامي سیمو کې ځایونه ونیول. نظامي روزنه د ښوونځیو او تعلیمنامو په واسطه پیل شوه په اردو پسې وروسته د توپ جوړولو کارخانه. د توپ او د باروت جوړولو فابریکه جوړه شوه. چې په بدایو شویو مګازینو یې کار کاوه. له دې پرته اردو سره وطني پخوانۍ وسلې او خارجي توپونه او توپکې هم وو. دا مهال د کابل د توپ جوړولو کارخانې په میاشت کې یو توپ جوړولای شو او د ټوپکو، کرچونو او باروتو د تولید اندازه زیاته وه سره له دې. چې د هغو د جوړولو لپاره یو څه توکي له پېښور څخه راوړل کېدل

په دغه دوره کې د قوماندې د یو موټي کولو او د سپاهیانو د سمبالولو په برخه کې ډېر کار وشو عسکري چوڼۍ جوړې شوې او بهرني روزونکي وګومارل شول. خو دغه کسان له انګلیسي هند څخه وګومارل شول. چې د افغانستان له ملي ګټو سره برابر نه وو. په دې کسانو کې ځینې یې دا وو. سردار بهادر غلام نقشبند. عبدالمجید او فتح علي خان (چې هندي افسران وو، چې امیر شیرعلي خان هند ته د خپل سفر پر مهال هغوی ځان سره راوستل) آن دا، چې یو کریم بخش. چې په کابل کې و هغه هم هندوستانی و. دوی په اردو کې کار پیل کړ.

د امیر شیرعلي خان پر مهال د افغانستان د منظم اردو تشکیل داسې و: ۵۷ پلي غونډونه (چې شمېر یې ۳۴ زره او څو سوه تنه کېدل)، ۲۲ بټرۍ غرنی توپچي او پلي سپور پوځ (۱۵۰۰ تنه). له کابل څخه پرته دغه پنځوس زریز اردو، چې په منظم ډول دایمي جوړ شوی و په ننګرهار، پکتیا، کندهار، هرات، میمنه. بلخ. او سرحدي سیمو کې هم په دنده بوخت و. د پلیو معاش په میاشت کې اووه روپۍ و. چې د دولت له خزانې څخه په نغد ډول ورکول کېدل. د سپور پوځ معاش د پلیو دوه برابره و. څکه چې د آس لګښت هم ورسره و. په اردو کې لکه د دربار په شان یونیفورم (خولۍ پتلون. کرتۍ او بالاپوش) ومنل شو. په عمومي توګه د امیر شیرعلي خان اصلاحاتو د دولت او اقتصاد په پیاوړتیا غوره اغېزه وکړه

Scanned by CamScanner

خو د برېتانیا دولت د دغې پیاوړتیا مخالف و.

امیر شیرعلي خان په ۱۸۷۳ کې د مرکزي دولت د تمرکز په خاطر د بلخ د والي نایب محمدعالم په لاس د میمنې وروستی سیمه ییز حاکم (میر حسین خان) چې لا یې هم سیمه ییزه خودمختاري چلوله په زور سره پلازمېنې ته راوست او هغه ولایت یې د مرکزي دولت تر سیده اداري لاندې راوست. نایب محمدعالم د سیمې کوچنی فیوډالان تر فشار لاندې راوستل او په دې ظلم سره یې ډېر ښمني پیدا کړه. دغه والي خپلې ځمکې هم په بیګار سره کولې او د خپلو ځمکو حاصلات یې په سپاهیانو باندې پلورل او په دغې سوداګرۍ سره یې ډېر زیاته شخصي پانګه وګټله. هغه د ځان د ساتلو په خاطر یو سپور کنډک د (رساله پري) په نوم جوړ کړ. کله. چې نایب محمد علم کابل ته احضار کړل شو. غوښتل یې چې د سرو زرو او آسونو په ورکولو سره دربار ته واسطه جوړه او ځان له هغو ظلمونو خلاص کړي. چې کړي یې و. خو د یوه آس د لغتې د وهلو له لامله ناروغ او په ۱۸۷۴ کې مړ شو. همدغه تونده سړي د بدخشان ولایت په ړاډمن کولو او هلته یې د سیمه ییزو فیوډالانو په ټکولو کې پوره فعالیت ترسره کړی و.

## دانګرېزانو د سیاسي تیري دوره

د امیر شیرعلي خان بهرنی سیاست سوله خوښوونکي او له روغې-جوړې ډک و. هغه له هیڅ ګاونډي او آن انګرېزانو سره هم د خاورې دعوا نه لرله. د هغه بنسټیزه موخه د افغانستان د موجودې ځمکې د تمامیت او بشپړوالي ساتنه وه او بس. دا ځکه چې امیرشیرعلي خان په دې باندې پوهېده. چې له ګاونډیو هېوادونو سره هر ډول سیاسي او نظامي ټکرونه ددې خنډ ګرځي، چې هغه په افغانستان کې اصلاحي نقشه او پروګرام پلي کړي او د دولت د ضعیف کېدو لامل ګرځي. نو ځکه یې په صداقت سره د روغې-جوړې سیاست غوره کړی و او له ګاونډیو څخه یې د افغانستان د خپلواکي له درناوي څخه پرته نور څه نه غوښتل. روسیې هم د افغانستان دغه سیاست ته د کوم زیان اړولو فکر نه درلود او ایران هم پرته د سیستان له موضوع څخه نه غوښتل دغه سیاست زیانمن کړي. خو د انګلیس دولت داسې نه غوښتل. دا ځکه چې دوی لا اوس په افغانستان باندې تیری او د افغان- انګلیس لومړی جنګ ژوندی باله او دوی ته ددغې جګړې اصلي لامل اوس هم ډېر مهم و. چې هغه منځنۍ آسیا د یوه ډېر مهم سنګر یعنې د هندوکش د غرونو نیول و. انګرېزانو سره ددغو غرونو دنیولو خیال لا اوس هم وه. دغه لوی غره ته یې د انګلیسي هند د (علمي سرحد) نوم ورکړی و او دغه (علمي سرحد) ته د رسېدلو په خاطر یې یو ځل څلوېښت کاله مخکې خپل ۴۰ زره عسکر او افسران افغانستان کې له لاسه ورکړل، خو په افغانستان کې د دوی د څلوېښتو کلونو مخکې شکست او ماتې دا معنا نه درلوده، چې دوی به خپله اصلي موخه هېروي او ددغه ماتې به د انګرېز اصلي نصب العین له منځه وړي، خو یواځې توپیر دا شو، چې انګرېزانو په انګلستان کې دغه مقصد ته د رسېدلو په خاطر دوه ډوله نظرونه درلودل: یو یې د لبرال ګوند نظر و. چې غوښتل یې په افغانستان باندې د برید او یرغل نظریه پرېښودل شي، خو په دغه هېواد کې دې د روسانو د نفوذ مخه ونیول شي او عملاً دې افغانستان تر نفوذ لاندې راوستل شي.

Scanned by CamScanner

کلیدستون د دغه ګوند مشر و. دوهم نظر د محافظه کار ګوند و، چې د کندهار او هرات په نیولو سربېره په افغانستان کې د فارود پالیسي یا د پرمختګ سیاست پر مخ بیوه. په لندن کې د دغو دوو نظریو توپیر او د هندوستان د اوړي پاخون ددې لامل شو، چې له ۱۸۵۷ څخه تر ۱۸۷۴ پورې د انګلیس حکومت د لنډ وخت لپاره په افغانستان زیات فشار او یرغل څخه ډډه وکړي. خو دغه سیاست د ډېر وخت لپاره پاتې نه شو او په ۱۸۷۴ کې د پرمختګ (فارورد) په سیاست بدل شو. تر څو چې د هغه پایله د افغان. انګرېز دوهمه جګړه راووته.

کله، چې امیر شیر علي خان په ۱۸۶۳ کال کې خپله پاچاهي اعلان کړه، انګرېزانو د نندارچیانو په توګه ورته کتل، خو کله چې په افغانستان کې کورنۍ جګړې پیل شوې او امیر شیرعلي خان هرات ته ولاړ، نو انګرېزانو په ۱۸۶۷ کې امیر ته یو یادښت ورکړ او ویې ویل که چېرې افغانستان ایران سره لږ خپلې اړیکې نږدې کړي، نو انګرېزان به په څرګند ډول د امیر سیاسي سیالان (ورونه او وریرونه یې) ور پیاوړي کړي، حال دا چې امیر شیرعلي خان په خپل هېواد د ننه ځواک سره دغه کورنۍ جګړې پای ته رسېولې وې او په ۱۸۶۸ کې یې د خپل دوهم ځل تاجپوشۍ په هکله د هند انګلیسي حکومت، مرکزي آسیا او روسیې ته اعلان کړی و. دا ځل انګرېزانو د ۱۸۶۸ کال د نوامبر په دوهمه مثبت ځواب ورکړ او مبارکي یې هم ورته وویله او ده ته یې ۱۲ زره ټوپک او شپږ لکه روپۍ سوغات را ولېږلې، دا ځکه چې انګرېزانو کتل. چې د امیرشیرعلي خان حکومت پیاوړی شوی او د خلکو له خوا پېژندل شوی و او په ۱۸۶۹ کې یې هغه ته هند ته د ورتګ بلنه ورکړه او غوښتل د راتلونکي په هکله ورسره وغږېږي. کله چې د لارنس پر ځای لارد میو هندوستان ته راغی بیا یې بلنه ورکړه. دا مهال د ګلادستون لبرال کابینې واک ترلاسه کړی و.

امیر شیرعلي خان له سید نور محمدشاه خان، جنرال حسین علي خان، ارسلا خان عصمت الله خان، مرزا محمد بني دبیر (واصل کابلی) شا آغاسي شیردل خان کوچنی شهزاده عبدالله او یوې فرقې عسکرو سره هند ته ولاړ او په ۱۸۶۹ کې یې په امباله کې له لارد میو سره کتنه وشوه. امیر په دې باندې پوهېده، چې انګرېزانو دده له پلار سره د ۱۸۵۵ او ۱۸۵۷ کلونو تړونونو د لاسلیک په واسطه د افغانستان لاس او پښې تړلي دي، په خپله لومړنۍ خبره کې یې ادعا وکړه، چې د خپل پلار د تړونونو د تصدیق کولو لپاره هند ته نه دی راغلی، سید نور محمد شاه انګلیسي هیئت (وایسرا میو، سپه سالار دینپر او د هند د بهرنیو چارو وزیر ستین و کارته یوه نوې پروژه وړاندې کړه، امیر شیر علي خان هم له انګرېزانو سره د یوه نوي تړون لاسلیک کولو ته چمتو شو. په دغه مسوده کې د امیر دوست محمدخان په ژمنو کې دغه بدلونونه راوستل شول: د دواړو دولتونو دوستي به دوه اړخیزه وي، د یوه دوست او دښمن به د بل دوست او دښمن هم وي. په هند باندې د احتمالي برید پر مهال به د دواړو دولتونو مشوره د اعتبار وړ وي، انګلیس به مدافع افغانستان سره دوسلې د پیسو په واسطه مرسته کوي، افغانستان به له انګلیسي انجنیرانو څخه کار اخلي (خو له انګرېزانو څخه د نظامي مرستې اخیستل د افغانستان د پاچا په ارادې پورې اړه لري). افغانستان سره به د انګرېزانو مرستې دایمي وي. البته د خطر پر مهال به

د افغانستان د امیر له خوښې سره سم دغه مرستې زیاتېږي. د انګلس دولت د افغانستان سلطنت د امیر شېرعلي خان د کورنۍ لپاره د امیر د زوی سردار عبدالله خان په ولایت عهدۍ سره تصدیق کوي. خو انګرېزان په افغانستان کې د پراخه لاس غوښتونکي وو او د امیر دوست محمد خان له خوا په لاسلیك شوېو یو اړخیزه ژمنو یې زوراچاوه. نو ځکه یې دغه نوی تړون نه مانه. دا ځکه چې په دغه پروژه کې له افغانستان څخه د سیاسي حمایت کوم ټکی نه و. په دې توګه لارډ میود نوی تړون اړتیا ونه منله، نو سمدستي یې د یوه بل فرصت د ترلاسه کولو په هیله امیر شیرعلي خان ته په دې توګه یو لیك ولیك: د انګلیس دولت د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي، ستاسې د سلطنت مخالف کړه-وړه ناوړه بولي، ستاسې دسلطنت د پیاوړتیا په خاطر به کله نا کله مرسته وکړي او د انګلیس حکومت به د افغانستان په ښارونو کې اروپایي (انګرېز نژاد) استازی نه ټاکي. امیرشیرعلي خان پوه شو، چې انګرېزان نه غواړي، چې د افغانستان لپاره د یوه پټمن تړون په لاسلیك کولو خپل لاسونه وتړي، نو ځکه یې نور هېڅ هم ونه ویل او هلته یې یواځې د انګرېزانو یوه نظامي ننداره وکتله او بېرته افغانستان ته راغی امیرشیرعلي خان په کابل کې د ایران یوه مؤقتي استازي مرزا ابوالحسن خان ته په ډېره خوښۍ سره ښه راغلاست ووایه او دې سره یو ځای د انګلیس سفیر عطا محمد خان هم کابل ته راغی اودلته مېشت شو. په همدې کال کې د روس او انګلیس خبرې-اترې د افغانستان د ناپېیلتوب په هکله پیل شوې او تر ۱۸۷۳ پورې د روس دولت ومنله، چې افغانستان د خپل نفوذ لاندې ساحې څخه بهر وشمېري او د افغانستان شمالي سرحد یې له سرقول څخه تر خواجه صالح کلي پورې ومانه او د آمو سیند کیڼ اړخ یې له بدخشان څخه تر میمنې پورې د افغانستان د اصلي خاورې په توګه ومانه، خو سره له دې هم انګرېزانو په افغانستان باندې خپل پټ او ښکاره فشار کم نه کړ، بلکې ورو ورو یې خپل سیاسي ویجاړوونکي فعالیتونه زیات کړل، دغه ویجاړوونکي فعالیتونه د امیر شیرعلي خان د یو شمېر تیروتنو له لامله لا زیات شول، تر څو چې امیر د خپل سیاست په برخه کې ډېر خوشباور، ریښتینی او بې احتیاطه و. هغه د هند پر مسلمانانو باندې د ورو‌ی اعتبار کاوه، نو ځکه یې دربار ډېر ژر د انګرېزانو په یوه جاسوسي مرکز بدل شو. قاضي قادر و نامتو جاسوس د افغانستان په سیاسي او اداري چارو کې لاس وموند او هندي افسرانو د افغانستان په اردوکې رسمي ځای، ونیو لکه جنرال کریم بخش، سردار بهادر غلام نقشبند، فتح علي عبدالحمید. له دې پرته د امیر د کورنۍ دننه انګرېز پاله عناصر پیدا شول لکه سردار ولي محمد خان لاتي، سردار محمدحسن خان او سردار محمداسلم خان، چې د امیر ورونه وو او سردار شیرعلي خان د سردار مهر دل خان زوی او سردار عبدالله خان د سلطان احمدخان زوی، د امیر د تره زامن او یو شمېر نور سرداران. آن دا چې سردار محمداسلم خان د کورنیو جګړو په ترڅ کې په یوه نازك فرصت کې د امیر دلښکر یوډېر تکړه سپه سالار فرامرز خان مړ کړ. سردار محمدحسن خان او سردار محمدحسین خان دبالاحصار په ارګ کې توطئه جوړه کړه او ویې غوښتل، چې امیر په یوه وروګلویزه میلمستیا کې له میلمستون سره یو ځای د باروتو د پیپونو په واسطه والوځوي. د امیر وراره سردار محمداسمعیل خان له انګرېزي استازي (منشي بختیار هندي) سره پټې

Scanned by CamScanner

سردار ولي محمد خان او سردار شیرعلي خان هغه کسان وو. چې په ښکاره يې د بغاوت جنډه ورپوله. د یلازمیني دننه يې جوړ جاړي وکړ او د افغانستان خلکو او دولت په ضد د انګرېزانو لښکرو پلوي جګړه پیل کړه او د کندهار او کابل ولایتونه يې پر دښمن باندې وپلورل. خو بیا هم امیر شیرعلي خان د ژوند تر پایه پورې له کورني پالنې څخه لاس په سر نه شو. دده یو نامتو حاکم په هرات کې دده وراره سردار فتح محمد خان، چې د یعقوب علي خافي د لیکنې (پادشاهان متاخر لومړی ټوک ۱۲۵ مخ) له مخې هغه به. چې هر ډول جوړه اغوسته. نو په هغې کې د هرات په من پېنځه منه کلا باتون کاروله لږ. له دې پرته بل کار يې نه درلود. په بهرني سیاست کې د امیرشیرعلي خان یو دلویه تېروتنه دا وه. چې هغه د اروپائیانو استعماري سیاست د هغوی رښتینولۍ او په خبرو باندې د ربدل او نارینه توب باله. همدا ډول انګیرنې دده د بهرنۍ پالیسۍ بنسټ جوړاوه. هغه تل له انګرېزانو څخه په دې باندې خپګان ښکنداوه. چې ولې يې پلاني وخت دروغ ویلي. او ولې يې په پلانۍ پېښه کې بې لوزي وکړه. ولې يې پلاني تړون تر پښو لاندې کړ او داسې نور هغه د روسي په زاري دولت هم باور کاوه او فکر يې کاوه. چې دروغ نه وایي او له خپلې خبرې څخه نه ګرځي. نو ځکه دې تېروت. خو تر ټولو زیاته لویه تېروتنه دده په ټول ژوند کې دا وه. چې هغه د بهرني تیري پر مهال د افغانستان خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا له ګواښ سره مخامخ کړه. د دده د کورني سیاست تېروتنه دا وه، چې دده د مشرانو زامنو له لړلو سره سره لکه سردار یعقوب خان (چې تر دې وخته پورې يې لا شخصیت له منځه نه و تللی) او سردار ایوب خان خپل کوچنی اووه کلن زوی يې د افغانستان د ولیعهد په توګه اعلان کړ. دا ځکه چې د هغه مور ورته له نورو ښځو څخه يې ګرانه وه. دا موضوع ددې لامل شوه. چې په ۱۸۷۰ کې سردار محمد یعقوب خان له پلازمینې څخه وتښتي او د خلکو په مرسته هرات ونیسي او سردار فتح محمد خان د هرات حاکم ووژني انګرېزانو په بېړه له دغې کورنۍ پېښې څخه ناوړه ګټه پورته کړه او محمد یعقوب خان نور هم ولمساوه. کله چې د امیر شیرعلي خان اردو د محمد یعقوب خان يې د ټکولو په خاطر د سپه سالار فرامرز خان تر قوماندې لاندې اسفزار ته ورسېد. سپه سالار هندوستاني جنرال کریم بخش په توطئې او د امیر د ورور سردار محمد اسلم په لاس ووژل شو او کریم بخش د سپه سالار د وکالت دریځ ترلاسه کړ. سردار محمد اسلم خان پوځ ونیو. کابل ته واستول شو او هلته بندي کړل شو. د محمد اسلم خان ورونو د هغه په ملاتړ پاڅون وکړ او د امیرشیرعلي خان د وژلو لپاره يې یوه توطئه جوړه کړه. خو دغه توطئه رسوا شوه او د محمد اسلم خان ورونه بندیان شول. وروسته بیا محمد اسلم او محمد حسین خان د خپلو دوو نورو ورونو محمد حسن خان او صالح محمد خان په لاس د امیر په زندان کې ووژل شول. کله، چې سردار محمد یعقوب خان د خپل پلار په دربار کې دا حال ولیده، له خپلو کړو څخه پښیمانه شو او کابل ته راغی او پلار ته تسلیم شو. خو امیرشیرعلي خان هغه په ۱۸۷۳ کې د بالاحصار په جیل کې د ېر کلک بندي کړ. دا ځکه د هند وایسرا نارت بروک په دې هکله ده ته یو لیک راواستاوه په هغه کې يې ویلي وو. چې: هیله ده چې تاسې هغه ژمنه چې کړې وه او د هغې له مخې محمد یعقوب خان کابل ته راغی. تر پښو لاندې نه کړئ، په دې صورت کې به تاسې د غوره نوم لرونکي

وستي به لـد خان سره ولرئ هيڅ شك نشته. چې دغه ليك يواځې او يواځې په
انګليسانو ... شوی و. چې د افغانستان په شاهي کورنۍ کې بې اتفاقي واچوي او اورونه بل کړي
همدې موخه ليکل ... نه درلود دا ځکه چې تر دې مهال پورې لا محمد يعقوب خان له انګرېزانو سره هيڅ
اعتبار يې ... جاړی نه درلود. خو دغه ليك اميرشيرعلي خان ته شك پيدا کړ او خپل زوی سره يې
کومه خبره او جو ... وکړ او د هغه جسمي او روحي ځواك يې ورتباه کړ او هغه يې په يو مات شوي او لـه
کلك جلـ... بدل کړ. په هر حال. امير نارت بروك ته وليکل: زه نه پوهېږم، چې تاسې ولې زما
ډېر بد ... باندې ... ځکه سپارښت کوئ؟ هغه زوی چې زه يې په غوسه کړی يم. دا مهال محمد ايوب خان هم د
زوی ... پاڅون وکړ. خو اميرشيرعلي خان يو پوځ ور واستاوه او هغه ته يې ماتې ورکړه
پلار پر وړاندې په ملاتړ ... تښتيد او يو ځل بيا کورنۍ اختلافات راتازه شول. په همدې وخت کې په
دغه سردار هم ايران ته و... ايران تېری او د افغانستان په جنوب لويديځ کې په سرحدي موضوع باندې
سيستان باندې د ايران تيری او د افغانستان په جنوب لويديځ کې په سرحدي موضوع باندې
شخړه هم پيښه شوه. انګرېزانو له دواړو هېوادونو (ايران او افغانستان) سره سروکار درلود او ايران په
پاريس کې په ۱۸۵۷ کال کې انګرېزانو سره تړون کړی و او ددغه تړون لـه مخې ايران اړ و، چې د
افغانستان او ايران تر منځ په شخړو کې د انګرېز منځګړيتوب ومني په دې توګه که انګرېزان د
سيستان په موضوع کې حکم (منځګړي) شول او د ګولډ سمت او ريچارد پالك هيئت په ۱۸۷۲ کې
سيستان ته را ورسېد. سيد نور محمد شاه خان فوشنجي په دې قضيه کې د افغانستان استازی و او د
ايران استازی مرزا معصوم خان او بيا مرزا ملکم خان وو. سيستان، چې د هلمند له سيند څخه اوبه
انيستې. د هلمند د ناوې يوه برخه وه او د غرونو د يوې لړۍ په واسطه له ايران څخه جلا شوی و او د
تاريخ په ترڅ کې له زرو کالو څخه زيات د افغانستان يوه برخه وه او د هرات او لاش جوين د ولايتونو
يو افغاني برخه وه. په تېره بيا چې د احمدشاه ابدالي له مهال څخه وروسته سيستان د افغانستان نه
جلا کېدونکې برخه وه. خو د افغانستان د داخلي ګډوډۍ پر مهال د انګليستانو په لمسون ايرانيانو د
هغه يوه برخه ونيوله او قاين پورې يې وتړله. له دې څخه وروسته د سيستان دعوا رامنځته شوه. د
ګولډ سميت هيئت د ايران او افغانستان له هيئت سره ډېرې خبرې وکړې او په پای کې يې د ايران په ګټه
او د افغانستان په زيان فيصله وکړه. ددغې فيصلې له مخې ايران برسېره پر دې، چې د سيستان ډېرې
نبې برخې ترلاسه کړې. د افغانستان د هلمند په اوبو کې هم د ۵۰ ميله اوږدوالي په واټن شريك شو.
البته په دې برخه کې د سيد نورمحمدشاه اعتراض بې ځوابه پرېښودل شو. نو هغه خامخا اړ شو، چې
تهران ته ولاړ شي او د ګولډ سميت قرارداد يې مب...له کړ. اميرشيرعلي خان د انګرېزانو له دغه حکميت
څخه خپه شو او د افغانستان او انګرېزانو تر منځ شخړه نوره هم زياته شوه.

په ۱۸۷۳ کې د انګليس حکومت د ګولډ سميت د حکميت له لامله د را پيدا شوې شخړې او خپګان د
له منځه وړلو په خاطر. اميرشيرعلي خان ته بلنه ورکړه، چې هند ته يو رسمي سفر وکړي، خو امير په
دې هکله په خپل دربار کې رای ګيري وکړه او په پايان کې يې د خپل سفر هند ته او کابل ته د انګرېزانو
د استازي راتګ رد کړل او هند ته يې د خپل يوه استازي د لېږلو وعده وکړه. په دې توګه د افغانستان

يو باتجربه سړى سيد نورمحمدشاه خان د کابل له دربار څخه په ۱۸۷۳ کې سملې ته ولاړ. دجولايي په مياشت کې يې له ګورنر جنرال نارت بورك او د هند د بهرنيو چارو لـه وزير ايچسن سره خبرې وکړې د انګليس د حکومت وړانديز دا و، چې بايد د افغانستان دولت پـه خپـل بهرني سياست کې له انګليس څخه مشوره واخلي او هم بايد د سرحدونو د معاينه کولو لپاره کندهار، بلخ او هرات ته يو موقت انګرېزي هيئت ولاړ شي او په دايمي توګه دى هم امير د انګرېز نظامي او سياسي استازي ومني. ددې په وړاندې د انګليس دولت حاضر دى، چې پـه افغانستان باندې د کوم بهرني يرغل پر مهال مرسته وکړي خو دغه مرسته به د انګرېزانو پـه پرېکړې پورې تړلې وي. افغاني استازي دغه وړانديز رد کړ. انګرېزانو ته يې دا روښانه کړه، چې د افغانستان له پاچا سره بايد دانګليس دوستي تضمين شي او په ولايتونو کې د انګرېزانو له خوا مرسته به شخصي امير پورې اړه لري. دې پسې انګرېزانو د سپتمبر په مياشت کې اميرشيرعلي خان ته يو ليك واستاوه او خپلې غوښتنې يې پکې ليکلې وې او له ليك سره يو ځاى يې ورته پينځلس زره ټوپك او يو ميليون روپۍ هم رالېږلې وې. افغاني استازي پرته له دې، چې مخکې تر مخکې يې کومه ژمنه يا هوکې ورسره کړې وي، لا د مخه د اګست پـه مياشت کې افغانستان ته راګرځېدلى و. سره له دې، چې اميرشيرعلي خان را استول شوي ټوپکونه ومنل، خو نغدې مرسته يې هند کې معطل کړه او ترلاسه يې نه کړه همدا رنګه نوموړي د انګليس هغه وړانديز ونه مانه، چې د افغانستان د بهرنيو اړيکو د مشروط او محدودولو او د هېواد پـه ښارونو کې دانګليسي استازيو د مېشت کېدو په هکله و.

وروسته بيا د همدې سپتمبر په مياشت کې نارت بروك اميرشيرعلي خان تـه وليکل، چې د انګليس او روس د هيئت تر منځ د خبرو په پايله کې، د روس دولت موافقه کړې ده، چې د افغانستان په بدخشان کې افغانستان سره کومه دعوا نه لري او هغه د افغانستان د خاورې يوه برخه بولي. لار د اميرشيرعلي خان ته له روسيې او ايران څخه هند ته د دوو تنو انګرېزي استازيو د راتيرېدو د اجازې هم وليکل، خو اميرشيرعلي خان د افغانستان له لارې د دوى له تيرېدو سره مخالفت وکړ، په دې توګه د دوو هېوادونو تر منځ سياسي بدګماني نوره هم زياته شوه.

په ۱۸۷۴ کې روسانو خيوه په بشپړه توګه ونيوله او د افغانستان پـه محاذ کې د انګرېزانو د (فارورد پاليسي) طرح هم تصويب شوه. حال دا چې ددغه پرمختګ وړانديز لـه ۱۸۲۵ کال څخه را دې خوا د فارورد پاليسي د پلويانو لکه لارنس، لمسدون او رابنس له خوا شوى و. په ۱۸۷۴ کې بارتل فريزر په افغانستان کې دانګليسانو د سياسي نفوذو د اړتيا خبره رامنځته کړه. له دې څخه وروسته د انګليس سياسي او نظامي دستګاه د افغانستان په وړاندې په کلکوالي او جديت سره په کار ولويده. د انګليس صدراعظم ديزرا د هند وزير سالسبري او راتلونکي وايسرا لارد ليټن ته ددغې نوې اړتيا دعملي کولو لپاره دنده وسپارله. انګرېزانو لومړى پـه ۱۸۷۵ کې د کلات لـه خان سره ج.ب. کالي يو پټ تړون وکړ، ورپسې يې کلات او کويټه نظامي مرکزونه وګرځول او کندهار پـه سيده توګه تر اور لاندې ونيول شو. په داسې حال کې، چې د کلات له والي امير بصيرخان سره د ۱۸۴۱ کال د تړون له مخې کوټه او

ښال دواړه د افغانستان د خاورې په توګه پېژندل شوي وو . البته امیر شیرعلي خان دانګرېزانو له دغه جلند څخه چې دده له خبرتیا پرته یې دا کار کړی و، نور هم غوسه شو او په ۱۸۷۲ کې یې د هند د وایسرا هغه بلنه رد کړه، چې د انګلیس د ملکې (امپراتریس هند) د لقب د اېښودلو په ویاړ ورڅخه شوې و،،دا ځکه چې دغه غونډه یوازې د هند د شهزادګانو لپاره وه، نه د بهرنیو هېوادونو د خپلواکو پاچاهانو لپاره.

دې پېښې وروسته د هند نوی وایسرا (لیتین) په همدې کال امیرشیرعلي خان ته یو لیك راواستاوه. چې د پیلي تر مشرتوب لاندې یو هیئت د خبرو-اترو په خاطر کابل ته راځي. امیر شیرعلي خان د انګرېزانو له خبرو-اترو سره پېژندګلوي پیدا کړې وه او پوهېد، چې د دوی په هر ځل خبرو-اترو کې د لومې یوه نوې کړۍ اچول کېږي، چې غواړي مقابل لوری په هره یوه کې راګیر کړي، نو ځکه امیر د لیتین دغه وړاندیز ونه مانه او ورته ویې لیکل، چې کابل ته به د انګلیس د هیئت راتګ د خلکو له خطر او ګواښ سره مخامخ نه شي کله. چې د هند وایسرا دا حال ولید. نوخپل سفیر عطاالله محمد یې وروغوښت عطامحمد لیتین ته توضیحات ورکړل، چې د افغانستان پاچا د لاندنیو لاملونو له مخې د انګلیس له حکومت څخه ناخوښه دی:

(د سیستان په هکله د انګلیس حکمیت (منځګړیتوب) د افغانستان په زیان بولي، د انګلیس له خوا د کوټې نیول د افغانستان د خاورې د یوې برخې نیول بولي، هغه ملاتړ چې انګرېز د امیر له زوی محمد یعقوب خان څخه څرګند کړی دی، د افغانستان په کورنیو چارو کې د انګرېزانو لاسوهنه ګڼي. د سملې په کنفرانس کې د انګرېزانو د چلند او خبرو-اترو څخه خواشیني دی په پېښور کې د انګرېزانو د کمشنر د خبرو او لیك طرز بې ادبانه بولي. وروسته بیا عطامحمد خان لیتن ته وویل، چې امیرشیرعلي خان د لاندنیو خبرو غوښتونکی دی:

افغانستان ته دې انګرېز نژاده استازی نه راځي، دده په هېواد کې دې لاسوهنه ونشي، د افغانستان او انګلیس پخواني تړونونه دې په دوه اړخیزه بڼه شي او د ګډې دفاع یووالی دې نوی او له سره تعدیل شي، یعنې (د بریتانیا دوست او دښمن د افغانستان دوست او دښمن دی) پر ځای باید لاندې عبارت راوستل شي.

(د دواړو دولتونو دوست او دښمن د دواړو دولتونو دوست او دښمن بلل کېږي) او لیکونو کې باید د افغانستان پاچا ته شاهانه عناوین او القاب استعمال شي.

لیتن د پرمختګ د سیاست (فارورډ پالیسي-ژ) له غوښتنې سره سم غوښتل، چې د روس د دولت اغېزو مخنیوي تر نامه لاندې د افغانستان په زړه او د هندوکش په غرونو کې انګرېزي لښکر ځای پر ځای شي او په کندهار کې دې د هرات او بلخ په شان د انګرېزانو نفوذ ټینګ شي. هغه غوښتل، چې کابل او غزني هم لکه د کوټې په شان د انګرېزانو نظامي اډه جوړه شي، شینوارو او مومندو له ننګرهار څخه جلا او پښین او سیبې د کندهار پر ځای له انګلیسي بلوچستان سره وتړل شي او د خیبر، کرمې او بولان لوېې لارې به د انګرېزانو په لاس کې وي، دا ځکه چې اصلاً لیتین د یوه ناپېیلي افغانستان په شتون عقیده نه لرله او ویل یې، چې باید افغانستان د انګلیس په دولت ډډه ولګوي یا د روس په دولت

Scanned by CamScanner

ډېره ولګوي که نه پرته له هغه باید دغه هېواد تجزیه او ووېشل شي او ښخي له منځه ولاړ شي. نو ځکه لیتین عطامحمد ته وویل. چې امیرشیرعلي خان د روس او انګرېز تر منځ د انډول غوښتونکی دی او وایي. چې زه د یوه تر اغېزې لاندې هم نه یم. حال دا چې افغانستان فقط د ژرندې د دوو میچنو ترمنځ غنمو یوه دانه ده او له دې څخه اضافه کوم شی نه دی. که دوی وغواړي (روس او انګرېزان) نو افغانستان به په یوه شېبه کې د نړۍ له مخ څخه ورك شي. په دې توګه یې عطامحمد خان ته امر وکړ، چې لاندیني ټکي د اخطار په توګه امیر شیر علي خان ته ووایي:

افغانستان دې پرته د انګلیس له خبرولو څخه بهرنیو هېوادونو په تېره بیا له روسیې سره اړیکې نه نیسي، په کابل. هرات او د هېواد په پولو کې دې د انګرېزي نژاد انګلیسي استازیو مېشت کېدل ومني. د افغانستان له لارې دې د انګلیسي مامورینو د تګ-راتګ لاره پرانیستې او د دوی د ساتنې مسئولیت دې ومنل شي. د انګلیس لېږل شوي هیئتونه به هر کله نا کله افغانستان ته د ورتګ اجازه ولري، د افغانستان پاچا به خپلو ګاونډیو (موخه یې په ختیځ کې د افغانستان غصب شوي ولایتونه وو، چې انګرېز نیولي وو) برید نه کوي. انګلیس د افغانستان په پولو کې پوځ پیاوړی کوي او دغه پولې ساتي.

لیتن وویل که چېرې امیر شیر علي خان دغه شرطونه مني، نو خپل استازي به پېښور ته د خبرو کولو لپاره را واستوي او که دغه خبرې نه مني. نو د استازي رالېږلو اړتیا نشته او په دې صورت کې به انګرېزان له روسانو سره مذاکره او موافقه وکړي، چې افغانستان د نړۍ له نقشې څخه ورك کړي او روسیه تر امیر شیر علي خان څخه دغه ډول موافقت ته ډېره ښه حاضره ده. د انګرېز د سفیر عطا محمد خان د خبرو له اورېدو څخه وروسته امیر شیر علي خان د انګلیسانو په ټولو ناوړه او د اوږدې مودې مقاصدو او غرضونو باندې پوه شو، نو ځکه له انګرېزانو سره له یوې پټمنې دوستۍ او توافق څخه ناهیلي شو. امیر عطامحمد ته وویل. چې افغانستان لکه هغسې چې لیتن فکر کوي د دوو تېږو ترمنځ د غنمو دانه نه ده. بلکې افغانستان د تلې د دوو خواوو تر منځ یو شاهین دی، چې که هرې خوا ته درونډ شي هغه بله خوا هوا ته الوځوي

له دې ټولو سره سره امیر شیر علي خان خپلې وروستۍ هلې ځلې وکړې. چې که چېرې وکولای شي د انګرېزانو له دوښمنۍ څخه په ډکه نقشه کې یو څه سمون راولي. د ۸۷۷ کال په جنوري کې یې د سیدنور محمدشاه تر مشرۍ لاندې یو سیاسي هیئت د خبرو په خاطر پېښور ته واستاو. ددغه هیئت مهم غړي میراخور احمد جانخان و دغه پلاوي ته په پېښور کې د وایسرا استازي پیلي ښه راغلاست ووایه او خبرې پیل شوې. پیلي بیا د لیتن هغه پخواني شرایط وړاندې کړل. صدراعظم په افغانستان کې د انګرېزانو د استازیو او سېدل رد کړل او ویې ویل، چې د افغانستان خلك په خپل هېواد کې د انګرېزي نژاد استازیو یو شتون خپلې ملي خپلواکۍ ته یو ګواښ بوي. پیلي وویل که چېرې د انګرېزانو شرایط ونه منل شي. نو په هغه صورت کې به بریتانیا په یو اړخیتوب سره ځان د ۱۸۵۵ کال د تړون ژمنه وبولي (هغه چې امیر دوست محمد خان سره لاسلیك شوې وه) او بس او هم به د هند د ساتنې په خاطر له

امیر شیر علي خان سره له مشورې او سلا پرته په اړونده چارو لاس پورې کړي.

صدراعظم په دې باندې پوهېده. چې د دوی له اړوندو چارې، ځکه موخه په کندهار او هرات کې مداخله کول دي، دا ځکه چې د ۱۸۵۵ کال د تړون د لاسلیك کولو پر مهال لا هم دغه ولایتونه د امیر دوست محمدخان تر واك لاندې قلمرو نه و بلل شوي او ځواب يې ورکړ. چې د ۱۸۵۵ کال له تړون څخه پرته د ۱۸۵۷ کال تړون هم شته. چې د هغه په اوم توك کې ویل شوي، چې: په افغانستان کې به پرته له یوتن غیر انګرېز (مسلمان) استازي څخه بل انګرېزي مامور نه وي. دغه توك تر اوسه پورې غورځول شوی نه دی. همدا رنګه د هند د حاکم لارد میو هغه لیکلې ژمنه هم شته. چې ویلي وو. چې بریتانیا به د افغانستان په خپلواکۍ کې هېڅ ډول لاسوهنه نه کوي. لارد نارت بروك هم یوه لیکنه راکړې وه. چې د افغانستان پولې د روس او انګلیس دواړو له خوا پېژندل شوي دي. او لارد کرانویل هغه د ۱۸۷۲ کال د اکتوبر د دوهمې نېټې په مکتوب کې په خپله هغه تاکلي دي. چې هېڅ بهرنی هېواد وربانديې تیری نشي کولای. آیا ددغو ټولو سندونو معنا همدا وه. چې انګرېز به څه چې غواړي په خپله به د افغانستان په ټاکل شویو بریدونو کې حکومت کوي؟

له انګلیس سره د افغانستان د صدراعظم دغه خبرې د ۱۸۷۷ کال د جنوري له دیرشمې څخه د مارچ تر نیمایي پورې وغځېدې او د خبرو په ترڅ کې صدراعظم دا ثابته کړه. چې په افغانستان کې د انګرېزي نژاده استازي پاتې کېدل هم د پاچا او هم د انګلیس د حکومت په زیان ده او د دواړو لوریو تر منځ د اړیکو د ساتل کېدو په خاطر د انګلیس یو مسلمان استازی په غوره توګه چارې پر مخ بیولای شي. پیلي په افغانستان کې: انګرېزي پلاوي په ټاکلو کې د انګلیس د حکومت د حق لرلو په خاطر د ۱۸۵۷ کال تړون او د امیر دوست محمدخان ژمنه را وړاندې کړه. صدراعظم ځواب ورکړ. چې هغه مهال انګلیس له ایران سره د جګړې په حالت کې و. خو نن ورځ کومه جګړه نشته چې په افغانستان کې د انګلیسي پلاوي د شتون لپاره د اړتیا لامل شي. پیلي وویل: که چېرې دغه غوښتنه ونه منل شي، نو وایسرا به نور هېڅکله د بهرني او کورني ګواښ په صورت کې د انګلیس له خوا کومه مرسته ونه کړي. صدراعظم وویل: دا چلند هم له پخوانیو ژمنو سره په ټوپیر دی. پیلي وویل: نو په دې توګه د وایسرا د نورو وړاندیزونو را مخکې کول یو بې ګټې کار دی. صدراعظم ځواب ورکړ. چې هیله ده د بریتانیا دولت هغه بنسټونه. چې پخوا اېښودل شوي و. په پټمن ډول وساتي.

په دې توګه له دولتونو څخه د هدایت اخیستلو په خاطر د خبرو-اترو دغه غونډه وځنډېدله او لیتین د مارچ په پنځلسمه پیلي ته خبر ورکړ، چې:

(که چېرې امیرشیر علي خان په کابل کې ځان د بریتانیا له استازي څخه محروموي دا د خپګان خبره ده، افغانستان به ددغه پاچا په دوره کې ځان پر ځای ولاړ پاتې وي. خلك به پاڅونونه وکړي اوضاع به شکمنه وي او دولت به ضعیف وي. نو ځکه بریتانیا نه غواړي، چې کوم نوي تړون له خپل داسې ګاونډي سره لاسلیك کړي. چې زړه يې نه غواړي. سره له دې. چې پخواني تړونونه زاړه شوي دي او خپل اعتبار يې له لاسه ورکړی. نو که کوم نوی تړون لاسلیك نشي دواړه لوري به بېرته خپلو پخوانیو

دریځونو ته ورشي، خو امیر باید په دې پوه شي، چې د انګلیسي استازي نه منل به د بریتانیا په وړاندې د نه دوستۍ لامل شي، همدا رنګه د بریتانیا د مرستې نه قدرداني او له افغانستان څخه د انګلیس افسرانو له تیرېدو څخه ډډه کول او په هېواد کې د جهاد په نامه د امیر لمسون دا ټول د امیر غیر دوستانه نظر بلل کېږي. د دغو ټکیو په ویلو سره بریتانیا په افغانستان کې د لاسوهنې او افغانستان سره د دښمنۍ خیال نه لري، تر څو چې امیر پخوانیو تړونونو ته ژمن وي، د هغه خپلواکۍ او واک ته به درناوی کېږي.

صدراعظم وویل، چې باید د نوي تړون په هکله پوښتنه وشي، د پخواني او نوي تړون په هکله به څه توپیر وي که توپیر نه وي، نو د هغه نوي کول بې ګټې کار دی او که توپیر لري، هېڅ اعتبار نشته چې دا به هم لکه د پخوا په شان له منځه ولاړ شي.

پیلي وویل: نوي تړون ته ځکه اړتیا ده، چې امیرشیرعلي خان د امبالې او سملې له تړونونو څخه ناخوښه دی. صدراعظم ځواب ورکړ: برعکس پاچا له هغو خبرو څخه خوښ دی، د همدغو خبرو په ترڅ کې صدراعظم ناڅاپه کلك ناروغ شو او د ۱۸۷۷ کال د مارچ په ۲۲ مه په شکمن ډول سره وفات شو او افغانستان یو ډېر صادق تجربه لرونکي او پوه سیاستوال له لاسه ورکړ، چې د برتانوي سیاست په رموز ښه پوه و، لارډ لیټن چې داسې فرصت غوښت، نو په بیړه یې د پېښور کانفرانس په یو اړخیز ډول پای ته ورساوه. امیر شیرعلي خان د ولیعهد په واسطه د صدراعظم جنازه بدرګه کړه او د کابل په شهدای صالحین کې یې خاورو ته وسپارله. له دې څخه وروسته د افغانستان او انګلستان په اړیکو کې یو خطرناکه چوپتیا رامنځته شوه، دا ځکه انګرېزانو پر افغانستان باندې دوهم ځلي برید ته ځان چمتو کاوه، خو امیر شیرعلي خان د پېښور کانفرانس پای ته نارسېدلی باله. نو ځکه یې د مستوفي حبیب الله خان (هغه د سید نور محمدشاه په ځای صدراعظم وټاکل شو) پلاوی یې واستاوه، چې د پېښور خبرو ته دوام ورکړي. میرزا شاه محمد خان د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د دغه پلاوي غړی و، پلاوی افغاني پولې ته رسېدلی و، چې لویس پیلي د کانفرانس پای (د لارډ لیټن د ۱۸۷۷ کال د مارچ د ۳۰ مې نېټې تلګراف په واسطه) مستوفي ته اعلان کړ، نو ځکه مستوفي بېرته کابل ته راستون شو. ۱۸۷۷ کال د افغانستان او انګلیس تر منځ ډېر سوړ تیر شو. په عین حال کې انګلیس په ناسیده توګه په سیاسي فعالیت بوخت و، په دې لړ کې د عثماني ترکیې یو پلاوی کابل ته راغی او غوښتل یې، چې امیر شیرعلي خان وهڅوي، چې د انګرېزانو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي او له روسیې سره یې د سیاسي اړیکو مخه ونیسي، دا ځکه چې دا مهال د ترکیې او روسانو تر منځ دوښمني وه او د هغې جګړې له لامله چې د دوی تر منځ په ۱۸۷۷ کې وشوه روسان اسلامبول ته نږدې شول او سلطان عبدالحمید اړ شو، چې د ۱۸۷۸ کال د سان ستیفان تړون لاسلیك او په بالکان ټاپو وزمه کې د روس حاکمیت ومني، خو انګرېزانو د اتریش او آلمان په مرسته روسیه مجبوره کړه، چې د برلین په کنګره کې د سان ستیفان پر تړون باندې تجدید نظر وکړي، کله چې روسانو ځان په داسې یوه حساس حالت کې ولید، نو په دې لټه کې شول، چې انګرېزانو ته د هندوستان په جبهه کې ګواښ را پیدا کړي او په ځان

باندې د برلین د کنګرې فشار کم کړي. نوځکه یې افغانستان ته مخ واړاوه. چې له انګرېزانو څخه ناخوښه و. د ترکیې پلاوي د روسیې د همدغې هڅې د مخنیوي په خاطر افغانستان ته راغی او خبرې یې پیل کړې. کله چې دغه پلاوي. پوه شو چې افغانستان د انګرېزانو په وړاندې کټ مټ همدغه دریځ لري، لکه ترکیه یې چې د روسانو پـه وړاندې لري. نو لـه افغانستان څخه خواشینی ستون شو. خو د روسیې دولت خپل سیاست تـه دوام ورکړ. لومړی یې پـه ۱۸۷۷ کې دوه تنه مسلمان استازي د امیر شیرعلي خان دربار ته راغلل او د دواړو دولتونو تر منځ یې دوستي ونښودله. امیر شیرعلي خان سره له دې، چې له انګرېزانو څخه خپه و، نو د روسانو دغه استازي یې ونه منل. دې پسې وروسته په مرکزي آسیا کې د روسانو حرکتونه تر سترګو شول او خبرې خپرې شوې، چې روسیه غواړي د هند په انګلیسي دولت برید وکړي. د همدې کال د جولايي پر ۲۲ مه د ستولیتو پلاوی کابل ته راغی او خبرې پیل شوې. حال دا، چې د جولايي پر دیارلسمه یعني له دغې ورځې څخه نهه ورځې مخکې د روسیې او ترکیې تر منځ روغه جوړه شوې وه او د برلین تړون لاسلیك شوی و، یعني نور نو ددغه پلاوي رالېږلو ته کوم بنسټیز لامل پاتې نه و او روسیې اړتیا نه لرله. چې خپلې سیاسي او نظامي مانورې ته دوام ورکړي تر هغو، چې استولیتوف د نړۍ له پېښو خبرېده او له روسیې څخه یې نوي هدایات غوښتل. خبرو دوام درلود. ددغه خبرو پایله د افغانستان او د روسیې تر منځ د یوې پروژې په بڼه راووته، چې ددغه تړون بشپړه بڼه زمونږ په واك کې نشته، کوم څه چې شته هغه د انګرېزانو په لیکنو کې دي، چې هغوی له دې څخه په افغانستان باندې د خپل نظامي یرغل په خاطر د یوه سند په توګه دلیل راوړي او امیر شیرعلي خان له روسیې سره په یو موټي کېدو او پر هندوستان باندې په یرغل کولو تورنوي. ښکاره خبره داده، چې امیرشیرعلي خان د یو خپلواك دولت د مشر په توګه د روسیې له هېواد سره لیکنې لرلې او د اړتیا پر مهال به یې خپل دغه مکاتبات هېڅکله نه و پټ کړي.

په هر حال، د روسیې دولت په دغو اړیکو کې غوښتل، چې انګرېزانو ته یوګواښ څرګند کړي او په اروپا کې خپلې ګټې ډاډمنې کړي، د انګلیس دولت تر هر چا زیات ددغو بې خطره اړیکو په هکله پوهېده، خو هغه په افغانستان باندې د خپل یرغل لپاره د یوه (حجت) په توګه کارول. امیر شیرعلي خان غوښتل، چې پر دغو اړیکو سره هغه خطر لـه منځه یوسي، چې ویل کېدل دده کلك سیال عبدالرحمن خان له روسانو سره نږدې اړیکې لري (دا ډول افواهات خواره شوي وو) او هم یو څه د انګرېزانو هغه ډېر سخت چلند د ځان په وړاندې سم کړي او که چېرې انګرېزان پر افغانستان باندې تیری کوي، نو افغانستان به د روسیې په شان یو ملګری ولري. البته امیرشیرعلي خان نه غوښتل، چې دغه موخې د هېواد د خپلواکۍ په ځارولو سره ترلاسه کړي. که نه ده کولای شول، چې د انګرېزانو غوښتنو ته غاړه کېږدي او روسیې ته کومه اړتیا پیدا نه کړي. د افغانستان او روسیې د تړون د مسودې اصل په لاس کې نشته، خو وروسته به یوه مسوده د انګرېزانو له منابعو څخه را پیدا شوه او امیرشیرعلي خان ته یې نسبت ورکړل شو. چې هغه د افغانستان خپلواکۍ نقض کوونکې ده، دا ځکه چې په هغې کې ویل شوي دي:

Scanned by CamScanner

د روس اردو کولای شي. چې له افغانستان څخه تیر او پر هندوستان برید وکړي
په افغانستان کې د وسپنې پټلۍ او تلګراف تمدید او د هغو ساتنه وکړي
یرغل پر مهال د روسیې ملګری وي او ددې موافقې په بدل کې د هند له نیولو څخه وروسته
پنجاب، سند، بلوچستان او دیره جات او پېښور بېرته د افغانستان شي. حال دا چې د کابل
کې ویل کېدل، چې د افغانستان او روس تر منځ خبرو-اترو او د قرارداد مسوده کې لاندې ټکي
روس د دولت پېژندنه افغانستان دولیعهد منل. په روسیه کې د افغاني سوداګرو
سوداګرۍ او صنعت په څارنه کې د افغاني محصلانو منل. د بهرني یرغل په صورت کې
افغانستان سره له مرستې ډډه نه کوي. په دې شرط چې پرته د روسیې له خبرولو څخه
کوم بهرني هېواد سره جګړه نه پیل کوي او افغانستان به د دواړو هېوادونو تر منځ د اطلاعاتو
شروع کوي آن کله چې جنرال رابرټ په ۱۸۷۹ کې کابل ته راغی. د امیرشیرعلي خان د مامورینو
وړاندې یې د امیر او د روسیې تر منځ د دوستۍ د پیل په خاطر کټ مټ همدغه ټکي پرته له کم او
کاست څخه بیان کړل(۱).

نو د کابل او د روسیې د استازیو تر منځ دغه خبرې-اترې روانې وې او د مسودې له بنې څخه یې
پر مختګ نه وکړی، چې ستولیتوف ته له روسیې څخه خبر راورسېد، چې د برلین تړون لاسلیک شو او
نوموړی باید له افغانستان څخه بېرته راشي. هغه د ۱۸۷۸ کال د اګست پر یوولسمه روسیې ته د خپل
بېرته تګ په برخه کې ځکه بېړه وکړه، چې ددغې مسودې له کړۍ څخه خلاص او له هغو ژمنو خان
وکاږي، چې افغاني حکومت سره یې کړې او ظاهراً یې هغه مسوده ځکه له ځان سره واخیسته. چې
ګواکې هغه نا لاسلیک شوې او باید د روس زار هغه مطالعه او تصویب کړي. هغه خپل مرستیال (روزګن)
او فد روسیې د استازي په توګه سره له یو طبیب (یورالیسکي) دلته افغانستان کې پرېښودل کله چې
استولیتوف تاشکند ته ورسېد، نو کابل ته یې د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر میرزا شاه محمدخان
په نوم یو لیک راواستاوه او ویې لیکل، چې زه د زار حضور ته ورغلم او وپېښې ورته بیانوم. هیله لرم چې
ومنل شي او دا هیله هم لرم، چې هغه کسان چې له ختیځې جبهې څخه د افغانستان دروازې ته راځي.
دغه دروازه په خپل مخ باندې تړلې ووینې (موخه یې انګرېزان وو).

البته انګرېزان د روس او د افغانستان تر منځ له دغو ټولو خبرو-اترو لیکنو او مسوداتو څخه بنه خبر
وو، دا ځکه چې د هغوی نامتو جاسوس قاضي قادر و د امیرشیر علي خان په دربار کې موجود و او په
ټولو سیاسي جریاناتو وارد او له هر څه خبر و. خو وروسته بیا انګرېزانو څرګنده یې، چې غوښتل هغسې
یې په خپله ګټه. ددغو مسوداتو متنونه او لیکونه تحریف. جعل او خپاره کړل، تر څو چې پر افغانستان
باندې د تیري کولو په خاطر بهانه په لاس کې ولري. سره له دې چې افغانستان یو خپلواک هېواد واو
امیر شیرعلي خان د یوه آزاد هېواد پاچا و او حق یې درلود. چې له بل هر بهرني هېواد سره یې. چې زړه
غوښتل سیاسي او سوداګریز روابط ولري او تړونونه ورسره لاسلیک کړي.

---

۱. قاضي عطاالله- دویم ټوک ۳۲۵ مخ

Scanned by CamScanner

انګرېزي دولت پر افغانستان باندې د بشپړ واکمن کېدو په خاطر د سند په سیند باندې پل وتاړه او له کوېټې او بلوچستان څخه یې تر راولپنډۍ، چترال او وزیرستان پورې مهمې ستراتیژیکې او نظامي سیمې یو بل سره وتړلې او ځان یې یوه بل برید ته چمتو کړ. همدا چې کابل ته د روسي هیئت له ورتګ څخه خبر شو، خپل یو سیاسي پلاوی (جنرال نوئل چمبرلین او سرلیوي کیوناري) یې کابل ته وګومارل. چې زرد تنو سپرو ځواکونو سره په کابل کې د انګلیس د پخواني سفیر عطامحمد خان وتیسي او امیرشیر علي خان د پلاوي منلو ته چمتو کړي، دغه پلاوي ته د لیتن له خوا دا سپارښت شوی و، چې که د افغانستان دولت غواړي یا نه غواړي، په کابل باندې باید ورشي. دغه پلاوي ته دا دنده ورکړل شوې وه، چې د افغانستان پاچا دې ته اړ کړي، چې د روس هیئت له کابل څخه وشړي او افغانستان دې ته هم اړ کړي، چې په افغانستان کې انګرېزي افسران میشت شي او خپل بهرنی سیاست د انګلیس د حکومت تر رهبرۍ لاندې راولي، نو په دې صورت کې به انګلیس دولت په افغانستان باندې د روس د دولت د یرغل پر مهال مرسته کوي او په کال کې به یو میلیون او دوه لکه روپۍ افغانستان ته ورکوي او هم به هر هغه څوك، چې د ولیعهد په توګه وپېژني (دا مهال ولیعهد عبدالله مړ شوی و) چې امیر شیرعلي خان یې ور وپېژني.
انګلیسي پلاوي له خپل همدې زیري سره د ۱۸۷۸م. کال د سپتمبر په ۲۱مه افغاني پولو ته راورسېد او د خیبر په علي مسجد کې یې ګام کېښود. په داسې حال کې، چې غلام حسین د سپتمبر په ۱۲مه، هغه مهال چې امیر شیرعلي خان د ولیعهد د دعا او فاتحې په چارو بوخت و، له ده سره وکتل. امیر شیرعلي خان په دغه کتنه کې د پېښور د انګلیسي کمشنر (واټر فیلډ) لیك، چې نوی رارسېدلی و، غلام حسین ته ورکړ. په دغه لیك کې انګلیسي کمشنر په ډېره بې ادبۍ او ترخه ژبه لیکلي و، چې غلام حسین امیر سره کتلي وي یا یې نه وي کتلي د چمبرلین پلاوي د سپتمبر په ۱۷مه کابل ته درځي. همدا رنګه کمشنر یو شمېر لیکونه علي حسن او جلال آباد ته سیده د پولو ساتونکو او افغاني حکامو ا صدراعظم ته هم رالېږلي وو. امیرشیرعلي خان د دوی د دې کار په وړاندې خپل اعتراض په لیکلې توګه انګلیسي وایسرا ته واستاو، بیا هم امیر شیرعلي خان له غلام حسین سره په سړه سینه چلند وکړ او ورته ویې ویل، چې روسي هیئت په اجازې سره راغلی و او اوس لا ډېر مخکې د دغه هیئت مشر استولیتوف بېرته روسیې ته تللی دی، د هیئت پاتې غړي هم، چې یو څه ناڅه ناروغان شوي دي، بېرته ځي او زه د ولیعهد له وېر څخه وروسته انګلیسي پلاوي ته هم کابل ته د راتګ اجازه ورکوم او هغوی سره خبرو ته هم تیار یم.
انګرېزي پلاوي، چې علي مسجد ته رارسېدلی و، د پولې د ساتونکي فیض محمد خان له خوا درول شوی و تر څو له کابل څخه اجازه ترلاسه کړي. کیوناري ورڅخه وپوښتل: آیا کله چې ته د یوه دوست دولت د پلاوي د راتګ مخه نیسې، نو امیر شیرعلي خان به دربار دې په غوسه نشي؟ فیض محمد خان ځواب ورکړ دا څه قسم دوست دولت دی، چې بې اجازې راځي او خلکو ته رشوت ورکوي، چې لار ورکړي، اپریدي د اپریدي په وړاندې پاڅوي او وینې توېوي.
په دې توګه چمبرلین له خپل پلاوي سره یو ځای بېرته له پولو څخه ستون شو او لیتن، چې همدا ورځ

غوښته او په خپله يې د همداسې يوې ورځې زمينه برابره کړې وه، ډېر خوښ شو، لندن ورته واك ورکړ، چې د افغانستان پاچا معذرت غوښتلو ته اړ کړي او هغه دا ومني، چې په افغانستان کې بايد د انګليس دايمي استازي مېشت شي. همدا ده، چې د ۱۸۷۸ کال د اکتوبر په ۳۱مه د انګليس اولتيماتوم کابل ته راورسېد د انګليس ذ غوښتنو منلو او نه منلو ته يې لس ورځې (د نوامبر تر شلمې پورې) وخت ورکړی و. امير شيرعلي خان د محمدعثمان خان په لاس د انګليس د اولتيماتوم ځواب د نوامبر په ۱۹مه ور واستاوه، هغه ډکې ته په رسېدلو سره خبر شو، چې د دښمن پوځيان له افغاني پولو څخه را اوښتي دي. تر دې مهال پورې، چې انګرېزانو د افغانستان دننه ډېر لاس وهلی و، يعنې د امير شيرعلي خان د کورنۍ دننه تخريبات يې کړي وو او يو شمېر سرداران او د امير سيالان (لکه سردار ولي محمد خان لاتي، سردار شيرعلي خان کندهاري، سردار محمد حسن خان او نور) يې د افغانستان په ضد او د انګرېز په پلوي ځان سره کړي وو او د افغانستان په اردو کې هم هندي افسرانو نفاق او شقاق توليد کړی و. قاضي قادر و او نورو د کابل په دربار کې ټول سياسي اسرار ځان سره لرل او د افغانستان په ويجاړولو بوخت وو. دوی وکولای شول، چې امير شيرعلي خان په بهرني سياست کې د اوس او د انګليسانو په وړاندې تير باسي او د انګليس په لاس د افغانستان نيولو ته لاره هواره کړي. په دغو پېښو کې يوه يې هم د (تغاره شاه) کيسه ده دغه مجهول الهويه سړی د امير شيرعلي خان په دوره کې د مزار په ښار کې پيدا شو، ځان يې د ملنګ په جامه کې پټ کړی و او ګڼ شمېر خلك يې دوکه کړل آن دا، چې د بلخ والي فيض محمد خان د ارادت لاس ورکړ. تغاره شاه له ښار څخه بهر مېشت شو او په اونۍ کې يو ځل به يې يوه تغاره په لاس کې وه او ښار ته به راتنوت او په تغاره کې به يې نذرونه ټولول. کورکې يې له ګلانو ډکه باغچه، ونې او بوټي وو او يوه وياله هم پکې بهيده او ګڼ شمېر خلك به ورتلل. هغه به په خلکو چرس او ترياك ويشل او په پټه به يې ډېر هوسا ژوند درلود. نوموړی سردار فيض محمد خان باندې زيری وکړ، چې د افغانستان پاچاهي دده په نصيب ده. دده خبرې دومره اغېزمنې وې، چې سردار د خوښۍ د توپونو ډزې وکړې. کله چې تغاره شا مړ شو، د بلخ والي نايب محمد علم خان د مرزا يعقوب علي خافي (د پادشاهان متاخر افغانستان تاريخ ليکوال) په لاس د هغه کور وپلټه او تر خاورو لاندې يې له سرو او سپينو زرو ډك منګي او له ځمکتلو څخه يې د وريجو، کرتو او غوړيو خمونه راوکښل[۱] خلك د نوموړي د دغه مرموز ژوند څخه هك پك شول. دا د هغه زمان د سياسي منفي پټو فعاليتونو يوه بېلګه وه.

امير شيرعلي خان د سپاهيانو د سمبالولو په خاطر د افغانستان په هر وګړي باندې څلور روپۍ حواله کړې، چې هغه مهال دا يو ډېر لوی بوج و، په دې توګه بزګران او څاروي روزونکي له پاچا څخه ناخوښه شول. له دې پرته په پلازمينه او د هېواد يو شمېر نورو ښارونو کې يو خاينانه بل تبليغ هم وشو، چې ويل کېدل، ګواکې اميرشيرعلي خان شراب څښي، محارمو سره معاشقي کوي، سوګند او قرآني مواثيقو سره ضديت لري او داسې نور... حال دا، چې اميرشيرعلي خان د عادت او عقيدې له مخې له دغو تورونو څخه پاك و. له بلې خوا پر افغانستان باندې د انګرېزانو د تيري پر مهال دغو دسيسو

---

۱- پادشاهان متاخر افغانستان- دوهم ټوك، ۲۲۵ مخ.

Scanned by CamScanner

امیرشیرعلي خان تر کلکې اغېزې لاندې راوست او ورته ویل کېدل، چې پلا زمینه پرېږدي او بلخ ته ولاړ شي او هلته د روس له دولت څخه مرسته ترلاسه کړي او بیا له بلخ او هرات څخه پر دښمن باندې بریدونه پیل کړي. البته دا ټول لاملونه دده د تیر ایستلو دلیل شول، خو تاریخ د څیرو او وګړو په نیت قضاوت نه کوي، بلکې د هغوی د اعمالو او کړو په پایله باندې خبرې کوي. په تېره بیا ددغو لاملونو په پایله کې امیر د افغانستان زړورو خلکو او سمبال پوځ باندې خپل باور له لاسه ورکړ او سترګې یې یوه بهرني هېواد ته واړولې. له دې ټولو سره سره امیرشیرعلي خان د محمدزیو د کورنۍ هغه یواځینی پاچا دی، چې له بهرنیانو سره یې هېڅ ډول داسې کوم تړون لاسلیک نه کړ، چې د هغه له لامله د افغانستان خپلواکي له ګواښ سره مخامخ شي او نه یې هم کومه ټوټه ځمکه بهرنیانو ته ورکړه.

کله، چې امیر شیرعلي خان خبر شو، چې دښمن له درېو غاړو څخه په پولو باندې را اوښتی. نو د کندهار، جلال آباد او پکتیا حاکمانو او افسرانو ته یې امر وکړ، چې د دښمن د پوځ له مخې څخه تر کابل اوهرات پورې په شا شي او د پاچا ثاني امر ته په تمه پاتې شي. په خپله امیر د ۱۸۷۸ کال د دسمبر په لسمه نېټه په دربار کې یوه لویه غونډه جوړه کړه، هلته ودرېد او خلکو ته یې داسې وویل:

زه بلخ ته او بیا له هغه ځایه سنت پترزبورګ ته ځم، تر څو هلته په یوه نړېوال کنفرانس کې د انګرېزانو د تیري موضوع طرح او د افغانستان حق وغواړم. خلکو شور-ماشور جوړ کړ او له هرې خوا څخه غږونه اوچت شول، چې غلطه ده،دا کار سم نه دی مونږ باید د توري په زور د دښمن مخه ونیسو. امیر په غوسه شو او ویې نه منله او لکه د یوه مستبد او ظالم پاچا په شان یې کریږي کړی، چې: په څه زه پوهېږم تاسې نه پوهېږئ (حال دا چې دی په خپله نه پوهېده، خو خلك پوهېدل). د کابل د خلکو استازیو وویل: نو چې تاسې ځئ نو زړور سردار محمد یعقوب خان له قفس څخه راخلاص کړئ،مونږ ته یې راکړئ. چې د دښمن مخه ونیسو. امیرشیرعلي خان ومنله،امیر محمدیعقوب خان یې راوغوښت او د کابل د والي په توګه یې خلکو ته ور وپېژانده، په دې توګه دغه ویرجن دربار پای ته ورسېد.

امیرشیرعلي خان په بیړه سفر ته ځان برابر کړ او د دسمبر په ۱۳مه یې په لیکلي توګه انګلیسانو ته د خپل عزم په هکله خبر ورکړ، خو انګرېزان پوهېدل، چې د د روسانو لاس او پښې داسې تړلي شوي دي، چې د بریتانیا د امپراتوري په وړاندې یو ډز هم نشي کولای. دې پسې امیر شیر علي خان د هغه حرم او اولادونه او یو څو وزیران یې، مامورین او افسران یې اوشپږ زره عسکر یې د بلخ په لوري روان شول په داسې حال کې، چې قاضي قادر و او سردار شیرعلي خان نه ورڅخه جلا کېدل. د روسیې هیئت هم په دغه سفر کې و. امیر شیرعلي خان د ۱۸۷۹ کال د جنوري په لومړۍ د مزار شریف ښار ته ورسېد، غوښتل یې مخامخ د روسیې خاورې ته ننوځي، خو د بلخ خلکو او پوځ نه پرېښود. جنرال فیض محمدخان امیرشیرعلي خان ته وویل، چې مونږ د جهاد بیرغ اوچتوو له انګرېزانو سره جګړه پیل کوو، د بلخ پوځ نه پرېږدي، چې تاسې پر دې هېواد ته ولاړ شئ.امیر د پوځ د پاڅون له ویرې له تګ څخه تیر شو او له جنرال کافمان سره یې په لیکلي توګه اړیکې ونیولې او همدا رنګه د بهرنیو چارو د وزیر شاه محمدخان قاضي قادر و او سردار شیرعلي خان په ګډون یې یو پلاوی د دفاعي چارو او خبرو-اترو ته د

Scanned by CamScanner

روسانو د موافقې د ترلاسه کولو په خاطر تاشکند ته واستاوه، هغه لیکونه چې کافمان د امیر په خوار کې ولیکل، په هغه کې یې په پتروګراد کې د امیر د سفیر منل هم رد کړل او هم یې د هر ډول مرستو ورکولو څخه هم ډډه وکړه او ویې ویل، چې باید امیر له افغانستان څخه ونه وځي او هر ډول، کېږي، باید له انګرېزانو سره روغه-جوړه وکړي. وروسته بیا کافمان ولیکل، چې دا امکان لري، چې له امیر سره په تاشکند کې یوه کتنه وشي، نه په پتروګراد کې، دا ځکه چې روسیې غوښتل، چې که افغانستان د روسانو او انګرېزانو تر منځ ویشل کېږي، نو امیر به د خپلو غوښتنو لپاره یوه وسیله وګرځوي، خو امیر شیرعلي خان یوناڅاپه ناروغ او د ۱۸۷۹ کال د فروري په ۲۱مه د ۵۶ کالو په عمر وفات شو او یو ځل بیا افغانستان د انګرېزانو د سیاسي او نظامي بریدونو او تیري له لامله د وینو په سیند کې ولوید. په افغانستان کې ټول خلك د امیر د دغې ضعیفې ارادې او د دښمن له مخې یې د تېښتې له لامله خپه او قهرجن شول او په پیغور ورکولو یې پیل وکړ، دا ځکه چې امیرشیر علي خان د افغانستان د پاچاهۍ دنده په غاړه اخیستې وه او کلونه کلونه یې په میلیونونو خلکو حکم چلولی و، دا دی اوس یې خپله درنده دنده یوې خوا ته کړه او د دښمن په وړاندې پرته له جګړې څخه وتښتید.

## د یعقوب خان د پاچاهۍ (سلطنت) پر مهال
## (د ۱۸۷۹ له مارچ څخه تر اکتوبر پورې)

امیر یعقوب خان د پلار د پاچاهۍ پر مهال د نیك نوم لرونکی سړی و او د پلار د سلطنت د ټینګښت په لاره کې یې په هرات کې ستر خدمتونه وکړل، همدا رنګه د کندهار د ترلاسه کولو لپاره یې په میړانه توري ووهلې. خلکو باندې ګران و، چې د پلار مشر او هوښیار زوی و، خلك د عبدالرحمن له ولیعهدۍ څخه بېزاره او د محمد یعقوب خان په بندي کېدو خواشیني وو. د کابل خلکو ورته د زمري بچی ویل کله چې امیر شیر علي خان وتښتید، خلکو هغه اړ کړ، چې محمد یعقوب خان له بند څخه راخوشې او په خپل ځای یې وټاکي، د بلخ خلکو او سپاهیانو هم د امیر شیر علي خان له مړینې وروسته د هغه زوی سردار محمدابراهیم خان او د هغه لور سابوجانه، چې د پلار په ځای د پاچا کېدو دعوا یې لرله ونه منل اومحمد موسی خان د محمد یعقوب خان اوه کلن زوی یې د هغه د پلار په نوم د حکومت د مشر په توګه ومانه. د هرات خلکو ښار پرته له جګړې او په خپله خوښه د محمدیعقوب خان ورور محمد ایوب خان ته وسپاره. د افغانستان له نورو ولایتونو څخه هم د محمد یعقوب خان په نامه بیعت را ورسېد او د بر ژر د هغه نوم په منبرونو ولوستل شو. خلك چې په کورمه، خیبر او کندهار باندې د انګرېزانو له تیري څخه خبر شول، نو د دښمن د ځپلو او شړلو په خاطر یو داسې پاچا او لارښوونه په تمه وو، چې د هغه تر

Scanned by CamScanner

نوغ لاندې راتول شي او پر دښمن برید وکړي. دا پاچا امیر محمد یعقوب خان و، چې په جګړه کې به یې چار آئینه زغرې اغوستې او پولادي خول به یې په سر کاوه او پر دښمن به یې ور دانګل، خو اوس نو محمد یعقوب خان هغه محمدیعقوب خان نه و، هغه په ځوانۍ (۲۵ کلنۍ) کې جیل ته ولوید او اووه کاله د بالاحصار په بندي خانه کې په یوائیتوب او تجرید په ناهیلۍ او غم کې اوسېدلی و. هغه چې د خپل پلار په لجاجت او عصبیت باندې خبر و، نو له ژوند څخه یې لاس مینځلی و او ځان یې د تل لپاره بندي بللی و، نو دغې خواشینۍ او کړاو هغه د جیل په درېیم کال باندې د ناروغۍ په بستر کې واچاوه، هغه ورځ په ورځ خپل اعصاب له لاسه ورکړل او په روحي او عصبي ناروغۍ اخته شو. نرۍ او ژوند ورته تیاره اوویروونکي شول او په وجود کې یې د ځوانۍ ولولې له منځه ولاړې. په پای کې هغه یو داسې سړی و، چې له هر څه څخه یې ویره کېده او خپل قوت اراده او مقاومت یې ښخي بایللي وو.

سردار محمد یعقوب خان په همداسې یوه حالت کې ناڅاپه د جیل له تابوت څخه د حکمرانۍ تخت ته ورسېد، په داسې حال کې چې ښار، سیمه، هېواد، عسکر،افسر خلك او دربار هر څه دده په سترګو کې پردي برېښېدل. د هېواد درباریانو نکل کاوه، چې کله چې محمد یعقوب خان له جیل څخه راخوشې شو، د بالاحصار په ختیز سراچه کې د یوې پرانیستې کړکۍ خواکې کښېناست او د خبرو-اترو مجلس پیل شو په دې مهال کې، چې کله امیر له کړکۍ څخه بهر وکتل، د مرنجان غونډۍ لاندې یې توپ ولید، چې خوله یې د بالاحصار خوا ته وه، پاچا دهغه په لیدلو سره وویرېد او د کړکۍ له خوا څخه لرې شو. د هغه د دربار د یوه مامور ورته پام شو او امر یې ورته وکړ، چې توپ باید یوه بل ځای ته یوووړل شي او په دې توګه امیر ډاډه شو.

امیر محمد یعقوب خان، چې د دسمبر په لسمه دپلار له لوري د کابل والي وټاکل شو، د پلار له مړینې وروسته د ۱۸۷۹ کال په مارچ کې یې د خپلې پاچاهۍ اعلان انګلیس او روس ته ور ورساوه،خو د هغه وفادار وزیران لکه صدراعظم مستوفي حبیب الله خان د بهرنیو چارو وزیر مرزا شاه محمدخان، سپه سالار داودشاه خان او منشي میرزا محمد نبي خان د انګلیس د یو شمېر پلویانو او سردارانو له خوا کلابند وو او په پرله پسې توګه د سیاسي ناوړه لمسونونو سره مخامخ وو. په کابل کې سردار ولي محمد لاتي د امیر په ضد فعالیت کاوه، غوښتل یې چې پر انګرېز باندې د افغانستان په پلورلو سره خان پاچا کړي سردار شیرعلي خان (د کندهار حاکم) له انګرېزانو سره په پټه لاس یو کړ او د کندهار د حکومت د له لاسه ورکولو له ویرې یې د دښمن چوپړ ته غاړه کېښوده. سردار محمدحسن (د جلال آباد حاکم) دانګرېزانو په وړاندې کټ مټ د کندهار د حاکم چلند غوره کړ. دوی یو شمېر هغه فیوډالان وو،

Scanned by CamScanner

چې یواځې او یواځې د وړیا ډوډۍ په تمه وواو د حکم چلولو په هیله وو. نور یې څه کمال نه درلود او هسې بړېڅي وو، چې ځان یې د دوست یا دښمن تر وزر لاندې ساته. د افغان- انګرېز په دوهم جنګ کې همدوی د بریتانیا تر بیرغ لاندې ودرېدل او د افغانستان د ملت په وړاندې یې توري ته لاس کړ. امیر محمد یعقوب خان پر تخت باندې د کښېناستو له لومړۍ ورځې څخه د ظالم دښمن زړه سوی ته سترګې واړولې، خو انګرېزان چې په دریو سنګرونو کې د افغانانو تر ګوزارونو لاندې راغلي وو او راتلونکی ورته ډېره ستونزمنه برېښېده اړ شول چې له امیر محمد یعقوب خان سره د روغې-جوړې لاره ونیسي او غوښتل یې، چې د خبرو-اترو له لارې خپله موخه ترلاسه کړي او پرته له جګړې څخه برته هندوستان ته ستانه شي. د همدې موخې او د خبرو-اترو په خاطر یې د امیر خسر سردار یحیی خان چې د امیر د حبس پر مهال هندوستان ته تبنتېدلی وو او په کشمیر کې اوسېد، راوغوښت او کابل ته یې راواستاوه همدا رنګه منشي بختیار هندي یې هم راواستاوه، چې د انګرېزانو د ډاډ وړ و او دا مهال انګرېزانو دوو ټکیو ته ډېره پاملرنه کوله: یو د درې ګونومهمو لارو (بولان، کُرمې، خیبر) ساتنه، دوهم د افغانستان د بهرني سیاست تر اغېزې لاندې راوستل. په دې توګه دوی د خپلو دغه دوومهمو موخو درسمي کولو په خاطر خپل عاملان په کار واچول. په کابل کې د انګلیس استازی منشي بختیار هندي او د امیر یو شمېر نږدې سرداران په دې باندې بریالي شول، چې امیر محمد یعقوب خان ګندمک ته ولېږي او هلته انګرېزان سره یو تړون لاسلیک کړي.

امیر محمد یعقوب خان سردار یحیی خان د مزار ښار ته واستاوه، چې دده کوزنۍ راولي او په ۱۸۷۹ کال د مۍ په دوهمه له منشي بختیار هندي. ۲۵ تنو سردارانو، څلور سوه سپرو او دخپلو ترونو (سردارنیک محمد خان، سردار محمد هاشمخان او سردار محمد طاهر خان) سره ګندمک ته ولاړ او د مۍ په اتمه هلته ورسېد. د لیتن له امر سره سم په ګندمک کې د خبرو-اترو دنده د انګرېزانو استازي کیوناري ته سپارل شوې وه،هغه دغه وړاندیزونه راوړي وو:

۱- افغانستان دې د خیبر او میچنۍ سیمې انګرېزانو ته ور پرېږدي او له هغو قبایلو سره دې هېڅ اړیکې ونه لري، چې دلته اوسېږي.

۲- د تل او شتر ګردن تر منځ ټولې سیمې دې د سیبي او پښین په ګډون انګرېزانو ته ور پرېښودل شي.

۳- د افغانستان بهرنۍ اړیکې دې د انګرېزانو په سلا او مشوره وي.

۴- هره هغه برخه، چې په افغانستان کې یې انګرېزان خوښوي، هلته به انګرېزي افسران او یو شمېر ساتونکی ځای پر ځای کېږي.

Scanned by CamScanner

امیر محمد یعقوب خان دا ټول ومنل، خو صدراعظم مستوفي حبیب الله خان او افغاني سپه سالار داودشاه خان، چې د امیر له منشي میرزا محمد نبي خان سره یو ځای وو، دغه پروژه رد کړه او خبرې نورې هم اوږدې او د مې دمیاشتې تر ۱۷مې پورې وغځېدې.

دامهال سردار ولي لاتي کیوناري ته یو ځانګړی وړاندیز وکړ او ورته ویې ویل، چې که د کابل پاچاهي راته ورکوي، نو دغه ټولې خبرې به په پټو سترګو ومني او لاسلیک به وکړي، خو انګرېزان پوهېدل، چې د سردار ولي محمد لاتي د انګرېز پالنې نوم په ټول افغانستان کې خپور شوی دی او خلکو له ډېرې کرکې په هغه باندې (لاتي) نوم ایښی دی او هغه به هېڅکله تړون کې راغلي ټکي ترسره نشي کړای، نو ځکه انګرېزانو تصمیم ونیو، چې دغه تړون په خپله امیر محمدیعقوب خان باندې لاسلیک کړي، په دې توګه یې د ګندمک د خبرو غونډه یو اځې امیرمحمدیعقوب خان پورې اېساره کړه او ځان یې د سپه سالار او صدراعظم له مخالفت څخه هم بچ کړ.

کله، چې د تړون د لاسلیک پر مهال انګرېزانو د امیر محمد یعقوب خان ضعف ولید، نو د قرارداد شرایط یې نور هم سخت کړل او په امیر باندې د فشار راوستلو په خاطر یې د سردار محمدخان لاتي د وړاندیز په هکله هم ورته وویل. امیر محمدیعقوب خان له خپل تره سردار محمدخان سره د اطاعت او تابعدارۍ په برخه کې په سیالۍ شو او د ۱۸۷۹ کال د مې په ۲۶ یې د ګندمک ننګینه او له شرمه ډک تړون په لاندې توګه لاسلیک او د افغانستان په تاریخ کې د امیرمحمدیعقوب خان تور نوم تلپاتې شو.

Scanned by CamScanner

## د ګندمک تړون

دغه تړون د لاندنیو شرایطو په لړلو سره د بریتانیا د حکومت او د افغانستان د امیر والا حضرت(۱) محمد یعقوب خان او د هغه د خپلوانو(۱) تر منځ د افغانستان او بریتانیا د دوستۍ او د سولې د روابطو په هکله لاسلیك شو

۱- له هغې ورځې څخه چې دغه تړون د دواړو لوریو له خوا لاسلیك کېږي. د بریتانیا د حکومت او د افغانستان د والاحضرت امیر او د هغه د خپلوانو او ځای ناستو تر منځ به دایمي سوله او دوستي ټینګه وي.

۲- د افغانستان والا حضرت امیر او د هغه خپلوان ژمنه کوي. چې د دغه تړون له لاسلیك څخه وروسته به د ټولو هغو کسانو، عمومي عفو اعلانېږي چې د جګړې پر مهال د انګرېزانو پلویان وو او د دوی د اردو په پلویتوب کې یې کار کړی وي، دوی په هره درجه او دریځ کې، چې وي له سزا څخه به ساتلي وي (لکه سردار ولي خان لاتي او نور).

۳- د افغانستان امیر او د هغه خپلوان ژمنه کوي ، چې له بهرنیو هېوادونو سره په اړیکو کې به د بریتانیا د حکومت له مشورې سره سم چلند کوي او له بهرنیو هېوادونو سره به کوم تړون لاسلیك نه کړي او د بهرنیو په وړاندې به وسله پورته نه کړي او د بهرنیانو د یرغل پر مهال څه ډول، چې د انګلیس دولت لازمه بولي په دفاع کې به د وسلې او پیسو مرسته کېږي د انګلیس سپاهیان به د دفاع له چارو وروسته له افغانستان څخه بېرته برتانوي قلمرو ته ستنېږي.

۴- د بریتانیا د حکومت او د والا حضرت تر منځ د نږدې اړیکو د ساتلو او د والا حضرت د سیمې د پولو د ساتنې په خاطر دواړه لوري ژمنه کوي. چې په کابل کې به د انګلیس یو استازی له خپلې ساتونکې ډلې سره په یو غوره ځای کې مېشت وي او د کومې مهمې بهرنۍ پېښې، پېښېدو پر مهال بریتانیا حق لري، چې د افغانستان پولو ته انګرېزي عسکر او استازي واستوي په لازم وخت کې. چې د دواړو لوریو ګټې په پام کې وي، د افغانستان والا حضرت امیر هم کولای شي، چې د ګورنر جنرال دربار ته استازی واستوي همدا رنګه د هند هغو نورو ځایونو ته هم استازي لېږلی شي، چې د دواړو لوریو رضایت پکې وي.

۵- د انګلیس د استازیو ساتنه د افغانستان د والا حضرت امیر او د هغه د خپلوانو په غاړه دي د انګلیس حکومت ژمنه کوي، چې د دغه استازي به د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي.

۶- د افغانستان والا حضرت امیر او خپلوانو یې د خپل ځان له لوري او د خپلو ځای ناستو له لوري ژمنه کړې، چې افغانستان ته د بریتانیا د اتباعو د تګ راتګ پر مهال به ستونزې نه پیدا کوي او هغوی به ډاډمن وي او خپله سوداګري به کوي.

۷- له دې لامله، چې د دواړو لوریو تر منځ سوداګري به تل روانه وي، نو د افغانستان والا حضرت امیر ژمنه کوي، چې د سوداګرو د ساتنې او په لویو کارو باندې د مال التجاري د تیرېدو لپاره به پوره هڅې کوي او د لارو په ساتنه کې به ډېره پاملرنه کوي. د سوداګرۍ د پرمختګ، د مالیاتو او د لارو د ښه نظم

Scanned by CamScanner

او نورو سوداګریزو چارو لپاره به یو جلا سوداګریز تړون د راتلونکي یوه کال په ترځ کې لاسلیك شي.
۸. د سوداګریزو چارو او د تګ راتګ د آسانتیا په خاطر دواړه لوري ژمنه کوي، چې له کُرمې څخه به تر کابل پورې د بریتانیا په لګښت تلګراف وغځول شي او د افغانستان امیر به د هغه ساتنه کوي.
۹. له دې لامله، چې ددغه تړون په واسطه د دواړو حکومتونو تر منځ دوستي ټینګه شوه، د بریتانیا حکومت هغه ښارونه، چې نیولي لکه جلال آباد، کندهار او نورې سیمې پرېږدي. خو کُرمه، پښین او سیبي به دهغې نقشې سره سم، چې دې تړون سره شته، د بریتانیا تر واك لاندې وي، خو دغه واك به د تل لپاره نه وي او مالیا به یې د کورنیو لګښتونو تر وضع کولو وروسته کال په کال د افغانستان امیر ته ورکول کېږي. د بریتانیا حکومت د میچنی او خیبر چارې، چې د جلال آباد اسمار او کابل تر منځ پرتې دي، خپل لاس کې اخلي او د هغو ټولو قبایلو تګ راتګ، چې په دغو سیمو کې مېشت دي، د بریتانیا په لاس کې به وي.
۱۰. د بریتانیا حکومت والا حضرت امیر سره د مرستې په خاطر (تر څو خپله حقه واك ترلاسه کړي) او هم ددغه تړون د لاسلیك شویو شرایطو د پوره کېدو په خاطر ژمنه کوي، چې په کابل کې به شپږ لکه روپۍ امیر او د هغه ځای ناستو ته ورکوي.

دغه تړون په ګندمك کې د ۱۸۷۹م. کال د مۍ په ۲۶ به، چې د ۱۲۹۶ هجري د جمادی الثاني له څلورمې سره برابره ده، لاسلیك شو.

*د امیر محمد یعقوب خان لاسلیك*

*د میجرانو: کیوناري په ځانګړو چارکې د سیاسي افسر*

*او د هند د ګورنر جنرال لیتن لاسلیك*

دغه تړون د ۱۸۷۹ کال د مۍ په ۳۰مه د جمعې په ورځ په سمله کې د هندوستان دګورنر جنرال وایسرای له خوا تصدیق شو.

*د هند د حکومت د بهرني سکرتریت*

*ای سي لیال لاسلیك*

په دې توګه امیر محمد یعقوب خان یو له پیچومو او ستونزمنو لارو څخه ډك غر او د هغه ټول زړور اوسېدونکي، چې د افغانستان په ختیځ کې د استعمار د تیري په وړاندې ډال وو. له کُرم سیمې څخه تر خاځیو پورې او د خیبر مهمه دره تر لنډي کوتل پورې او د سیبي او پښین علاقه د کوژك تر غورونو پورې دښمن ته ورکړه او له دې سره یو ځای یې د افغانستان خپلواکي هم دښمن ته تسلیم او د پردیو لاس یې په افغانستان کې آزاد پرېښود. په دې بریالیتوب سره کیوناري په ډېر غرور سره لیتن ته ولیکل، چې: ما دغه معامله داسې له امیر محمد یعقوب سره ترسره کړه لکه په سرحد کې، چې له یوې قبیلې سره ترسره شوې وي. په هند کې لیتن او د ډیزرایلي کابینې په لندن کې ددغې سترې سوبې له امله، چې د افغانستان د مهمو سوق الجیشي ترلاسه کول و او انګرېزانو ته د حیاتي شا رګونو د ډېر آسانه ترلاسه کولو ډېرې لویې خوشحالۍ مجسلونه جوړ کړل، چې د بولان، پیوارو او خیبر لارې د انګلیس لاس ته

Scanned by CamScanner

ولویدې. دیزرائیلي په لندن کې مخ په افغانستان باندې د مارش کولو قوماندې څخه وروسته وویل پر افغانستان باندې د انګلیس د تیزی اوبرید موخه د پولو ټاکل و او دا دی مونږ اوس دې مقصد ته ورسېدو.

ده لکه هغسې یې، چې ژمنه کړې وه، هغسې یې هندوستان د افغانستان د درېو مهمو لارو خاوند کړ او له دې پرته د ګندمك تړون افغانستان د دوی یوه مستعمره وګرځوله انګرېزانو وروسته تر دغې سوبې څخه ځانونه د کُرمې او خیبر نویو پولو ته په شا کړل، خو د کندهار پرېښودل او کوټې ته بېرته ستنېدل یې وځنډول، چې هوا لږ څه سړه شي. امیر محمد یعقوب خان له ګندمك څخه کابل ته راغی او د کندهار ګرشك، کلات، ننګرهار او لغمان ولایتونه یې خپلو ترونو او د ترونو زامنو (سردار شیرعلي خان او د سردار میردل خان زوی، سردار محمد یوسف خان، سردار محمد طاهرخان، سردار محمدحسن خان او سردار محمدآصف خان د سردار یحیی خان زوی) ته وسپارل او په خپله د یوه عاطل او غافل نندارچي په توګه ورته کښېناست. یوه میاشت وروسته سرلویي کیوناري د کابل دربار ته د انګلیس د سفیر په توګه راغی، چې یو لوی پلاوی (مستر جینګنز د منشي په توګه، ډاکتر کیلي د طبیب په توګه، لفتنن دګارد د قوماندان په توګه او ۵۲۰ سرتیري ورسره وو) د کُرمې له لارې افغانستان ته ورسره راننوتل. د امیر محمد یعقوب خان په امر په پولو کې دوی ته دیوې افغاني عسکرې قطعې له خوا هر کلی ووېل شو. کیوناري د ۱۹۷۹ کال د جولایي په ۲۴مه کابل ته راورسېد او د بالاحصار په یوې غوره ودانۍ کې ورته ځای ورکړل شو. امیر محمد یعقوب خان دهغه راتګ ته نهه کنډکه پلي او سپاره او دوه بټریه توپ واستول او د توپ د ۱۷ ډزو په کولو یې ورته هر کلی ووایه. په دې توګه کیوناري لکه د خپل سلف (مکناټن) په شان د ناز او غرور پر بالښت ډډه ولګوله.

یوه میاشت او څو ورځې کیوناري د سفارت تر نقاب لاندې په واك چلولو کې هم ګوتې وهلې دربارونه یې جوړول، امرونه یې کول او د افغانستان په اداري چارو کې یې په څرګنده توګه لاسوهنه کوله، خو د کابل پوځ او خلکو د ۱۸۷۹ کال د سپتمبر په درېیمه پاڅون وکړ او هغه یې دده له سیاسي پلاوي او ګارد سره یو ځای ووژه. کور، سامان او بستره یې ور وسوځوله. امیر محمد یعقوب خان امر وکړ، چې د کابل پوځ ته دې له خزانې څخه دشپږو میاشتو نغد معاش ورکړل شي او رخصت دې شي. تر څو د دښمن د را رسېدو پر مهال پلازمېنه بې دفاع او لارې یې پرانیستې وي، دا ځکه چې هغه مهال د افغانستان اردو د خپلې خوښې و (یعنې د مکلفیت دوره نه وه) او د ټول عمر لپاره نظامي خدمت کې ګومارل کېدل، البته د کابل که چېرې به یو ځل دغه اردو له خدمت څخه معاف شو، نو بیا یې جوړولو زیات وخت نیو، پوځ او سپه سالار ددغه امر په ترسره کولو کې یو څه ځنډ راوست.

کله، چې د انګلیس حکومت د خپل پلاوي له ډېر بد برخلیك څخه خبر شو، نو کابل ته یې د غچ اخیستو په موخه سوقیات پیل کړل، د نورو جبهاتو په پرتله د کُرمې له جبهې څخه جنرال سرفریدریك رابرټس مخکې په کابل راغی. امیر محمد یعقوب خان، چې لا مخکې د کابل پوځ رخصت کړی، نو د ننګرهار، پکتیا او کندهار چارواکیو ته یې امر وکړ، چې د دښمن د پوځونو د راتیرېدو لارې پرانیستې پرېږدي

Scanned by CamScanner

او دفاع څخه دې لاس واخلي. دا مهال د صدراعظم مستوفي حبیب الله خان او د بهرنیو چارو وزیر مرزا شاه محمد خان په مشري یو پلاوی د ۱۸۷۹ کال د سپتمبر په شلمه د کُرمې علي خېلو ته د رابرټس لیدو. کتو په خاطر ورغی او له هغه څخه یې هیله وکړه، چې د عسکرو سوقیات ودروي او ژمنه یې وکړه، چې د کیوناري د قتل تورن به پیدا او سزا به ورکړي. البته رابرټس سره د ټول هېواد د نیولو نقشه وه، نو ځکه یې دغه وړاندیز ونه مانه او لېږل شوي پلاوي د ۱۸۷۹ کال د سپتمبر په ۲۵مه بېرته راستون شو او په خپله رابرټس نور هم رامخکې شو. په دې حال کې، سردار ولي محمدلاتي د هغوی مخې ته ورغی او انګرېزانو ته یې د چوپړ په برخه کې خپله توانایي ور وښودله. کله چې امیر محمد یعقوب خان علي خېلو ته پلاوی واستاوه، نو خپله له اووه کلن ولیعهد محمد موسی خان، ۲۰۰ سرتیرو او ۴۵ تنو سردارانو او سپه سالار داودشاه خان سره له کابل څخه لوګر ته ولاړ او د خوشي په سیمه کې دیره شو هلته یې د ۱۸۷۹ کال د سپتمبر تر ۲۷مې پورې له رابرټس سره د لیک له لارې خبرو ته دوام ورکړ. دا مهال (بریګېډیکر جنرال بیکر) له خپلو پوځیانو سره یو ځای په خوشي کې لښکر کوټ جوړ او کله چې رابرټس د شترګردن له لارې څخه د لوګر خوشي ته راورسېد، نو امیر محمد یعقوب خان ورسره خبرې پیل کړې او هغه ته یې خپله پخوانۍ دوستي او د ګندمک تړون څرګند کړ. خو رابرټس د هغه په هکله ولیکل: "... امیر محمد یعقوب خان څه ناڅه ۳۲ کلن دی، د هغه اخلاقي قوت له منځه تللی، د هغه ربړېدیدونکې سترګې هېڅ ته مخامخ نه ګوري کله مې، چې لومړی ځل ولیده یوه شوم. چې دوه مخی سړی دی، نو ځکه مې هسې یوه ظاهري رویه ورسره غوره کړه...))

د ۱۸۷۹ کال د اکتوبر په دریمه رابرټس امیر محمد یعقوب خان نظربند او په تحت الحفظ ډول یې ځان سره کابل ته راوست او د اکتوبر په شپږمه کابل ته راورسېدل او په سیا سنګ او د هغه خوا ته په غونډۍ باندې یې لښکر کوټ جوړ کړ. امیر محمد یعقوب خان ته د انګلیسانو په کمپ (مرجان) غونډۍ کې او د (هندو سوزان) په سیمه کې یوه خیمه کې ځای ورکړل شوی و او نږدې دوه میاشتې هلته د بندي په توګه وساتل شو. کله چې انګرېزانو کابل ونیو، بالاحصار یې د هغه له ټولو شتمنیو، اسنادو، زېرمو، نظامي لوازمو او هغو مخزنونو سره ترلاسه کړ، چې د امیر شیرعلي خان د لسو کالو پاچاهۍ په ترڅ کې په ډېر کړاو راټول او ډک شوي وو. په دغو زېرمو کې ۲۵۰ ټنه باروت، زرګونه ګولۍ او کالتوس، زرګونه پټاقۍ، ۸۵ توپونه، په زرګونه ټوپکونه، زرګونه توري او د سپاره نظام لپاره زینونه، قیضې او نور نظامي سامانونه وو. خو امیر محمد یعقوب خان هغه ټول وړیا د دښمن لاس کې ورکړل، چې د افغانستان دخلکو په تندي باندې ګوازر ورباندې وکړې، انګرېزانو د ۱۸۷۹ کال د اکتوبر په ۱۲مه نېټه د بالاحصار د ښار د نړولو اعلان وکړ او په همدغه ورځ یې له امیر محمد یعقوب خان څخه د افغانستان له سلطنت څخه د استعفا لیك واخیست دا، ځکه چې امیر نه غوښتل چې د رابرټس له بلني سره سم د بالاحصار د نړولو د کتلو لپاره ورشي.

کله، چې انګرېزانو امیر محمد یعقوب خان دده د ملت او هېواد په ضد استعمال کړ، نور یې ورته اړتیا نه لرله، نو ځکه یې هغه د ۱۸۷۹ کال د دسمبر په لومړۍ له یوې نظامي قطعې سره یو ځای په بندي ډول

هندوستان ته ولېږ او هلته يې تبعيد کړ. نوموړي هلته تر هغه وخت پورې د انګرېزانو جيره خورد تر څو چې مړ شو. انګرېزانو د افغانستان بهرنيو چارو وزير مرزا شاه محمد خان هم هند ته تبعيد او سپه سالار داود شاه خان يې په کابل کې بندي کړ. څه موده وروسته يې صدراعظم مستوفي حبيب الله خان هم هندوستان ته تبعيد کړ او سردار يحيى خان او سردار ذکريا خان هم په امير محمديعقوب خان پسې ولېږل شول د افغانستان خلکو له دې وروسته ددغه بدمرغه او ډارن پاچا نوم په کرکې سره ياداوه او ددہ له اولادونو څخه يې هم کرکه کوله. آن دا، چې له دې څخه ۴۵ کاله وروسته کله چې د پکتيا خلکو د شاه امان الله خان په ضد پاڅون وکړ او د دولت پوځ مات شوی و، د امير محمديعقوب خان پسر خوانده عبدالکريم خان له هند څخه د افغانستان پولو ته راواستول شو، چې د شورشيانو مشري په غاړه واخلي، خو کله چې پکتيا وال پوه شول، چې دغه عبدالکريم د امير محمديعقوب خان زوی او يا هم پسر خوانده دی، نو له پاڅون څخه يې لاس واخيست او د امان الله خان پاچاهي ته تسليم شول او آن دا، چې د شورش او د اړ-دوړ جوړوونکو مشران يې هم دوی ته وسپارل. د انګليس حکومت هم د افغانستان د دولت له يادښت سره سم اړ شو عبدالکريم خان له هند څخه وشړي او برما ته يې واستوي، خو ډېر ژر د مولوي يارمحمد خان مقري په نوم يو افغان له افغانستان څخه پسې ورغی او عبدالکريم خان يې په برما کې مړ کړ او بېرته افغانستان ته راستون شو. يو وخت کې بيا کله، چې د سقو د زوی د اړ-دوړ دوره پای ته ورسېده سردار محمد موسی خان د امير محمديعقوب خان زوی او وليعهد د افغانستان دولت ته پناه راوړه او د تر مړينې پورې همدلته و، خو دا وخت خلکو، نور دغه زوړ سردار نه پېژانده، چې دا هماغه پخوانی وليعهد دی.

# اووم

## د انګلیس د دولت دوهم تیری او د افغانستان د خلکو مبارزه
## (د ۱۸۷۸ له نوامبر څخه د ۱۸۸۰ تر اګست پورې)

د افغان- انګلیس دوهم جنګ د افغان- انګلیس د هماغه لومړني جنګ دوام و، چې فقط دیوې ۳۵ کلنې اوربندۍ په واسطه یو بل څخه جلا شوي وو، دا ځکه چې د انګرېزانو موخې او د جنګ علت (منځنۍ آسیا ته د انګرېزي استعمار د پرمختګ سیاست) نه و بدل شوی. خو دومره توپیر راغلی و، چې د جنګ وسایلو د انګرېزانو په ګټه او د افغانانو په زیان بدلون موندلی و ددې معنا داده، چې د افغان- انګرېز په لومړۍ جګړه کې انګرېزان له افغانستان څخه لرې و او په منځ کې سکهـ دولت پروت و، نو ځکه هغه مهال انګرېزان مجبور و، چې له پنجاب څخه به (د سکهـ او انګلیس فاصل حد) یعنې د ستلج له غاړو څخه تر افغانستان پورې د څلور سوه میلو واټن په پښو، اوښانو او آسونو باندې مزل وکړي، چې کله به یې لاره بنده شوه او مرسته به ورباندې ودرېده، هغه مهال انګرېزانو موټر او د وسپنې پټلۍ نه درلوده او لښکر یې له فیروز پور څخه د سکر او شکار پور له لارو څخه تر کوټې او کندهار پورې راتلل، چې دا یوه اوږده لاره وه، خو په دوهمه جګړه کې د سکهـ دولت نه و او نور نو انګرېزان د افغانستان خوا په خوا ګاونډیان وو. دوی دامهال په پېښور کې دوه فرقې په کُرمه کې یوه فرقه او په کوټه کې دوه فرقې عسکر درلودل. په دغو فرقوپسې وروسته دانګرېزانو سل زریز اردو ولاړ و، چې مخابراتي وسایل، تلګراف او روغتیایي چارې او نقلیه منظم وسایل یې لرل. اوس د دوی په اردو کې هرې پېنځلس زریزه فرقې ته ۳۵ بار وړونکي څاروي ورکړل شوي وو. دوی د ایجنیرۍ، باروت جوړولو فابریکې، د ګولۍ جوړولو کارخانې او د وسپنې دوه بشپړې پټلۍ په واك کې لرلې. په دې توګه انګرېزانو ددغه ډول ځواك په درلودلو سره دوهم ځل د افغانستان د نیولو لپاره راغلي وو او د لومړي جنګ تجربه هم ورسره وه.

که نه د انګلیس په زکاوت هغه پېښې، چې باید په تجربې حل شوې وای، دوی غوښتل په تفکر سره یې حل کړي، په تجربه خو لاڅه کوې.

افغانستان د ۳۵ کلنې اوربندۍ په ترڅ کې یوه لوی بهرني جنګ ته نظامي چمتوالی نه درلود لا هم عامه وسله فقط هماغه پلته یې او دانپور او چقمقي ټوپکونه وو. افغانان ډېر لږ شمېر د پټاقۍ لرونکي او دنباله پر ټوپك لرل. امیر شیرعلي خان ایله نوي پیل کړي وو، چې نظامي چارې برابرې کړي، خو په خپلې بېړنۍ تېښتې او له کندهار او پېواړ او خیبر څخه یې د افغانستان د ۵۰ زریز اردو د راغونډولو او پوځ ته د په شا تګ امر کولو په واسطه یې هر څه ګډوډ او د سوق او اداري مرکز یې له منځه وړی و. ده پسې

امیر محمد یعقوب خان یو بل ګام هم وړاندې شو او اردو یې بېخي له منځه یووړه. دا یواځې نه، بلکې امیر محمد یعقوب خان دښمن ته په تسلمیدو سره د افغانستان دولت او اداري تشکیلات هم په بشپړ ډول له منځه یووړل. په دې توګه د انګلیس امپراتوري له خپلو ټولو ځواکونو سره د افغانستان له بې دولته ملت او یوې بې اداري او بې سوقه اردو سره مخامخ وه، په تیره بیا د انګرېزانو پټو جاسوسي فعالیتونو د هېواد د انحلال او اختلال لاره لا مخکې هواره کړې وه. ډېره ستونزمنه خبره وه، چې په داسې شرایطو سره ډې یو ملت وکولای شي، چې د نړۍ د یوې لویې امپراتورۍ په وړاندې ودرېږي. خو سره له دې هم د افغانستان خلکو یو ځل بیا دغه درنه دنده په ډېره حیرانوونکې توګه ترسره کړه.

په هر حال، کله چې د انګلیس دولت تصمیم ونیو، چې پر افغانستان برید وکړي له دې سره سم چې د امیرشیرعلي خان پر مهال یې د اولتیماتوم ځواب په ټاکلي وخت راونه رسید. د انګرېز ځواکونه له دریو محاذونو څخه راتیر شول: د کندهار کُرمې او خیبر څخه. انګرېزي ځواکونو دنده لرله، چې له غازي خان دیرې څخه د بولان، کوټې، کوژك او چمن له لارې څخه په کندهار ورشي. له پېښور څخه د جمرود علي مسجد او ډکې له لارې جلال آباد ته ننوځي او دربیم پوځ له کوهاټ څخه د ټل. پیواړ. ځاځیو. خوست او لوګر له لارې پلازمېنې کابل ته ننوځي او ویې نیسي. د اړتیا پر مهال به درې واړه پوځونه په کابل کې یو بل سره یو ځای کېږي.

د کندهار په پوځ کې یې دوه فرقې وې، چې دولس زره او نهه سوه عسکر یې لرل او نوي توپونه ورسره وو. په دې فرقې پسې لا خره ۲۲۰۰ نور احتیاطي عسکر او ۱۸ توپونه وو. کندهار ته ددغې فرقې په راتګ سره د تیري کوونکي دښمن شمېر ۱۹۵۰۰ عسکر او ۱۰۸ توپونو ته ورسېد. د کندهار د لښکر مشر جنرال ستوارت و. د کُرمې له لارې راغلی لښکر ۱۵۰۰۰ سرتیري لرل چې قوماندان یې جنرال رابرټس و. د خیبر له لارې د تیري کوونکي لښکر شمېر له احتیاطي ځواك سره یو ځای ۲۵ زره سرتیري وو، چې د جنرال براون تر امر لاندې را روان وو. د انګرېزانو دغه ټول پوځ ۷۰ زرو ته ورسېد. په دې توګه د دښمن پوځ، د ۱۸۷۸ کال د نوامبر په ۲۱مه افغانستان ته راغی دې وخت کې لیتن د خلکو د غافل او دوکه کولو په خاطر یوه اعلامیه خپره کړه په هغې کې یې وویل، چې د انګرېزانو جګړه یواځې له امیر شیرعلي خان سره ده نه. د افغانستان له خلکو سره. دا مهال ځکه د دښمن پوځ افغانستان ته د ننوتلو لپاره ټولې دروازې (پولې) پرانیستې ولیدې. چې امیرشیرعلي خان لا د مخه افغاني پوځ ته د شا تګ امر کړی و او له بلې خوا ددغه لارو د دوو خواوو اوسېدونکي د انګرېزانو له اولتیماتوم او د دښمن د برید له ګواښ څخه خبر نه وو. نو ځکه د دښمن تیري، ناڅاپي او نه اټکل کېدونکي پېښ شو. تر څو خلك خبرېدل او د دفاع په لټه کې کېدل، د دښمن ځواکمن او توپچي لرونکي پوځونه په بیړه له دریواړو محاذونو څخه راتېر شول او مهم ستراتیژیك ځایونه یې ونیول.

Scanned by CamScanner

## د کندهار محاذ

جنرال سردانلد ستوارت او جنرال میکائیل اس ای بیدولف د نوامبر پر ۲۱مه له دوو فرقو عسکرو سره د کوژك له لارې له کویټې څخه په کندهار ورغی. د کندهار حاکم له میر افضل خان لا مخکې د کندهار له پوځ سره د ګرشك او فراه له لارې له کندهار څخه وتلی او هرات ته روان و. که د په شا تګ دغه امر د امیر شیرعلي خان له خوا نه وای ورکړل شوی او امیر په پښین او کوټه برید کړی وای، نو ول پښتانه بلوڅان بې خوا کې درېدل. سره له دې، چې جنرال صدر علی خان همداسې یو وړاندیز وکړ، خو امیر شیر علي خان ونه مانه. د لارې د دوو خواوو خلکو د شپې له خوا په چریکي جګړو پیل وکړ او د دښمن د اردو بار وړونکي څاروي یې ویجاړ کړل دښمن وروسته تر کلکو ګوزارونو د تخته پل په سیمه کې وکولای شول، چې کندهار ته لاره ومومي. دلته د ښاریانو له تیت او پرك بریدونو سره مخامخ شول. سینت جان یو انګرېزي افسر د یوه کندهاري بوټ ګنډونکي د دروش تر ګوزار لاندې راغی، نواب غلام حسین هندي او یوې ډلې عسکرو سنت جان وژغوره، خو دغه کندهاری ځوان د خلکو تر مخې اعدام شو. لږ وروسته یوه بل کندهاری ځوان په یوې چړې سره، د دښمن پر یوې ډلې برید وکړ، د انګرېزي توپچي یو لفتننت او درې سرتیري یې ور ووژل. انګرېزانو دغه ځوان هم ټوټه ټوټه کړ. پنځو تنو زده کوونکو د انګرېزانو د نظامي تمرین په ډګر کې په هغوی برید وکړ او څو تنه یې ور ووژل. همدا ډول د نور احمد په نوم یوه بل کندهاري څو تنه یرغلګر انګرېزان ووژل. یو لړګي خرڅوونکي له خپلو دوو زامنو سره د انګرېزانو په لیدو سره خپل اوښان پرېښودل او د دښمن اووه تنه یې ووژل، څلور یې ټپیان کړل، تر څو دوی هم ووژل شول.

ستورات د کندهار حکومت نواب غلام حسین ته او سیاسي استازیتوب یې سینت جان ته وسپارل او په خپله مخ په بې دفاع کلات ورغی او هغه ځای یې ونیو. د کندهار ښاریانو وسلې ته لاس کړ. په ناڅاپي او ډېر کلك برید و، چې د دښمن پوځونه یې وویرول، انګرېزانو هم هر لوري ته ګوزارونه پیل کړل او ډېر ګوزارونه یې په خپلو کې سره وکړل، چې ډېر شمېر یې ووژل شول. دا مهال جنرال بیدولف له کندهار څخه له یوې فرقې سره په ګرشك باندې برید وکړ، چې دده پر ځای یوه بله انګرېزي نوې فرقه له کوټې څخه راغلې وه. کله چې استوارت او بیدولف د کندهاریانو له بریدونو څخه خبر شول، له خپلو فرقو سره یو ځای بېرته د کندهار د ساتلو لپاره راستانه شول، چې د بېرته ستنېدو په لاره کې د چریکي بریدونو له لامله ورته زیانونه واوښتل. دا ځکه چې د لارې د دوو خواوو خلکو د خوراك توکي له ځان سره وړي وو او پاتې یې سوځولي وو، چې دښمن ته ونه رسېږي. په خپله یې د دښمن د ستنېدو لارې وترلې او د شپې یرغلونه یې وریاندې پیل کړل او د دښمن د لېږدولو وسایل یې ځان سره بوتلل. دښمن په ډېره سختۍ ښار ته ننوت. له دې یرغلونو څخه وروسته دانګرېزانو درې فرقې د ګندمك د تړون تر لاسلیك کېدو پورې شپږ میاشتې ایساري پاتې شوې، چې په دغه ټوله موده کې یې په کلابند ډول خانونه ساتلي وو او د ښار له شا و خوا کلیو پرته نورې سیمې یې ونه نیولې. د دوی پیاوړي توپچي د دوی ساتنه کوله خو بیا هم د خلکو د خرپ ترپ یرغلونو دوام درلود، خلکو به د دوی د لېږد د مخنیوي

لپاره تل د دوی بار وړونکي څاروي له منځه وړل. یو مهال د انګریزانو دومره اوښان مردار شوي وو، چې شا و خوا سیمه بوی نیولې وه. په دې توګه دښمن ته خوراك رسېدل ګران شول او نظامي وسایل او درملې ورځ په ورځ کم شول.

## د خیبر محاذ

د ۱۸۷۸ کال د نوامبر په ۲۱مه جنرال سرسموئیل براون او جنرال ما د له خپلو دوو فرقو عسکرو سره په خیبر دره کې د علي مسجد په افغاني کلا باندې برید وکړ، افغانانو دفاع ته ملا وتړله او کلکه جګړه ونښته، جنرال براون له ماتې سره مخامخ شو، دامهال دوه نور پوځونه را ورسېدل او براون یې وژغوره. علي مسجد یې کلابند کړ او افغانانو تر شپې پورې مقاومت وکړ، د شپې له خوا یې کلا پرېښوده او شاته تګ یې غوره وباله. دغه کلا د نوامبر په ۲۲ مه د دښمن لاس ته ولویده. کله چې اپریدیو دا حال ولید دوی هم د شپې په بریدونو پیل وکړ او له پېښور څخه تر علي مسجد پورې یې د دښمن کرښه تر ګواښ لاندې راوستله. جنرال له خپلو شپږ زره عسکرو سره وګومارل شو، چې دغه لاره پرانیستې وساتي، خو د اپریدیو یرغلونو دوام درلود. مومندو هم په خپلو سیمو کې، چې انګریز عسکر موندل، له منځه یې وړل، په تېره بیا د دښمن بار وړونکي څاروي یې له منځه وړل او په خیبر کې نور د دښمن د اردو اوښان پاتې نه شول. جنرال براون په بیړه ژر را روان شو او د جلال آباد بې دفاع ښار یې ونیو او د شینوارو او مومندو د کلیو په تصفیه یې پیل وکړ. په بونیر او سوات کې ملایانو د سیمه ییزو خانانو د مخالفت سره سره جهاد اعلان کړ، نو ځکه انګریزانو خپل یوه برخه عسکر هلته ور ولېږل. براون د ګندمك د ترون تر لاسلیك کېدو پورې په جلال آباد کې پاتې شو او شپږ میاشتې یې د جلال آباد او پېښور د تورخم د لارې په ساتنه تېر کړل، خو په دې حال کې هم د جلال آباد شا و خوا خلکو ورباندې ځای ځای بریدونه کول، د بېلګې په توګه خوږیانیو، مومندو، زخه خېلو، اپریدو او شینوارو له جمرود څخه نیولې تر علي مسجد، لنډي کوتل او باسول پورې خلکو یوه شېبه هم انګریز په کرار نه پرېښود. دې پسې د لغمان خلکو د عصمت الله خان تر لارښوونې لاندې پاخون وکړ او تر جلال آباد پورې را ورسېدل او په فتح آباد کې یې یو پوځ سره راټول کړ او انګریزانو سره کلکې جګړې پیل شوې، خو انګریزانو په خپل ځواکمن توپچي سره د مجاهدینو بې توپه ځواکونه خواره واره کړل. په دې پسې مومندو د خیبر شا و خوا په انګریزانو برید وکړ او دوی ته یې پوره مالي او ځاني زیانونه واړول. په عمومي توګه لا هم خلك د دولت اقدام ته سترګې په لار وو، خو دولت هسې په کابل کې په نامه دولت و، چې لاس او پښې یې مات او ولسونه یې د دښمن په وړاندې له مبارزې څخه را اړول او هسې وعده یې ورکوله، چې دښمن په خبرو-اترو له خاورې څخه باسو. په دې توګه دښمن ته ورځ تر ورځې دا وخت په لاس ورته، چې ځان پیاوړی کړي، نوې مرستې را وغواړي او ځان ټینګ کړي. د هېواد روحانیون بې د پاچا له امر څخه و او سرونه یې ګریوان کې ننویستلي وو، د پاچا کاواکه دریځ د افغانستان د خلکو سراسري پاڅون وځنډاو. په دې توګه دښمن نور هم دلته د پاتې کېدو په هکله زړور شو.

Scanned by CamScanner

## د کُرمې محاذ

جنرال فریدریك رابرتس د ۱۸۷۸ کال د نوامبر په ۲۱مه نېټه له ټل څخه د کُرمې په لوري، چې پخوا یې د امیر شیر علي خان په امر څواکونه وتلي وو راغی او هغه ځای یې ونیو، خو د پیوار په نیولو کې د خلکو له کلك مقاومت سره مخامخ شو. د مدافعینو دغه ځواك د غونډ مشر کریم خان، غونډ مشر ګل محمد خان او کنډك مشر عبدالعلي خان تر مشرۍ لاندې درې نظامي کنډکونه وو، چې دولس توپونه یې لرل. جنرال رابرتس په دغه محاذ کې یوه اعلامیه خپره کړه او په هغې کې یې د ټل او شترګردن تر منځ تولې ستراتیژیکې سیمې د انګلیس قلمرو پورې تړلې اعلان کړې. رابرتس خلکو ته په خپلو وعدو کې وویل، چې د خلکو له دین سره کار نه لري، خو مذهبي علما به په سیاسي چارو کې کار نه لري، په دغه فرصت کې د خوست حاکم محمد اکرم خان، چې یو ملي خاین او د انګرېزانو پلوي و، خپل هوډ یې رابرت ته بیان اوژمنه یې وکړه، چې خوست به پرته له کومې دفاع څخه ورپرېږدي. دغه وړاندیز رابرتس نور هم ډېر زړور کړ او له پیوار څخه وړاندې و رغی او خوست یې مفته ونیو. محمد اکرم خان نه یوازې دا، چې خوست دښمن ته تسلیم کړ، بلکې د خلکو هغه نقشې یې هم ورته بیان کړې، چې جوړې کړې یې وې، خو له دې سره سره بیا هغم منګلو، وزیرو، ځدرانو، مسودو او علي خېلو د ۱۸۷۹ کال د جنورې په ۱۷مه لکه د سیلاو په شان په یرغلګر دښمن برید وکړ او ډېر یې ووژل. انګرېزانو د یوه عادت له مخې د افغانستان جګړه کې د خپلو مړو شمېر پټاوه او تر پایه یې د هغو شمېر ونه ښود، خو د شاله لوري رابرتس د خوست شا و خوا یوولس کلي لوټ کړل، خو بیا هم د منګلو، ځاځیو او خوستیانو په وړاندې مات او اړ شول، چې بېرته کُرمې ته ستون شو.

کله چې، رابرتس له خوست څخه په شا کېد، یوه پخواني اشراف او د انګرېز تالي څټي (شهزاده سلطان جان سدوزایي) یې په خوست کې د والي په توګه وټاکه، خو خلکو په مقر کې د متون په کلا یرغل وکړ او سلطان جان یې تر برید لاندې راوست. رابرتس له یوې نوي پوځ سره په خپله له کُرمې څخه خوست ته راغی، خلکو بیا برید وربادې وکړ او د انګرېزانو دغه پوځ له ماتې سره مخامخ شو، نو رابرتس د خپل خلاصون لپاره ځومره خرڅ او خوراك یې، چې وړای شو، ځان سره واخیست او پاتې نور یې د کلا دننه وسوځول، بېرته کُرمې ته ولاړ. په دې توګه د خلکو زړورتیا د لومړي ځل لپاره هغه له ماتې سره مخامخ کړ او خوست وژغورل شو. دې پسې خلکو دښمن پسې واخیست او په خیبر او ننګرهار کې هم د ماد او براون پوځونه له ماتې سره مخامخ شول او ګڼ شمېر آسونه، اوښان او کچرې له لاسه ووتې، دلته هم څلور زره مسعودي او وزیري وسله والو په ټانك برید وکړ، دښمن یې له ځاني او مالي زیانونو سره مخامخ کړ. د کوهاټ شا و خوا هم د خلکو بریدونو دښمن وارخطا کړی و. انګرېزانو په ډېرو خواریو د شپږ زره عسکرو په لېږلو سره په دغه سیمه کې مسود او وزیر ننګیالي له خپلو نیول شویو سیمو څخه لرې کړل.

د افغانستان د دریو مورچلونو دغو جګړو انګرېزان په دې پوه کړل، چې ددې هېواد نیول په نظامي ځواك سره ورته ګران دي، نو ځکه لیتن او د هغه افسران هندوکش ته د رسېدلو پر ځای د کندهار او جلال آباد

د پرېښودو په لټه کې شول. دوی کیوناري ته دنده وسپارله، چې له امیر سره خبرې وکړي، تر دې وخت پورې له ختیزو او جنوبي پولو څخه د انګرېزانو له راتیرېدو څخه شپږ میاشتې تیرې شوې وې، له کابل سره د کیوناري د لیکنو د لړۍ پیل د ۱۸۷۹ کال د مې له میاشتې شروع شوی وه او کومه پایله ورڅخه ترلاسه نه شوه او امیر محمدیعقوب خان د سولې د تړون په خاطر په خپله ګندمك ته ورغی، دا څکه چې خلکو او د کابل پوځ نه غوښتل، چې کیوناري کابل ته راشي، دغه بدمرغه تړون لکه چې مخکې وویل شول د مې په ۲۶مه لاسلیك شو.

## د کابل د خلکو پاڅون (۱۸۷۹ د سپتمبر درېیمه)

د انګلیس سفیر سرلویي کیوناري (چې د کابل خلکو کمناري باله) د ګندمك د تړون د څلورمې مادې له مخې د ۱۸۷۹م. کال د جولایي په ۲۴مه له منشي جنکنتر او ځانګړي طبیب او یوه ۵۲۰ کسیز ګارد سره د لفټنت هملتن په قوماندانۍ کابل ته راغلل او د امیر محمدیعقوب خان د یوې قطعې عسکرو له خوا ورته هر کلی وویل شو. او د بالاحصار په ښار کې د امیرمحمداعظم خان په یوه ډېره ښه ودانۍ کې ورته ځای ورکړل شو. دغه سفیر لکه د مکناټن په شان د دولت چارو کې په لاسوهنه او د امر او حکم په چلولو او د ښکاره دربارونو په جوړولو پیل وکړ، خو ډېر ژر په دې باندې وپوهېده، چې د افغانستان خلك د پردیو واك نه مني او دا ځواب هم ورته ورسېد، چې په کابل کې نظامي ډلو ته توری له تیکې کښلې او په بازارونو کې ګرځي او د انګرېزانو او د انګرېزانو د پلویانو په ضد خبرې کوي، کیوناري د اګست په شپږمه د هند وایسرا ته تیلګراف وکړ او هغه یې له یو شمېر خطرناکو راپورونو څخه خبر کړ، هغه د اګست په دیرشمه د هند حاکم ته وویل، چې له امیرمحمد یعقوب خان او د هغه له وزیرانو څخه کوم شکایت نه لري.

د سپتمبر په درېیمه د بالاحصار په دروازه کې درې کنډکه نظامیانو یوه غونډه جوړه کړه، چې په زرګونو کابل ښاریانو پکې ګډون وکړ. خلکو په دغه غونډه کې د انګرېزانو واك، د پردیو د تیري په وړاندې د ټینګار او د امیر محمدیعقوب خان د پردۍ پالنې په هکله خبرې وکړې او د دښمن د نظامي سفارت د له منځه وړلو او په اړه یې خپله پرېکړه اعلان کړه. تر دې مهال پورې کیوناري د پېښو د مخنیوي لپاره له امیر محمدیعقوب خان څخه مرستې غوښتې وې. امیر سپه سالار داود شاه خان د خلکو د خورولو په خاطر واستاوه، سره له دې، چې سپه سالار د زړه له تل څخه د خلکون د پاڅون غوښتونکی و، خو همدا چې د خلکو منځ ته ورغی او غوښتل یې څه ووایي خلکو هغه له آس څخه راوغورځاوه او کلك کلك یې وواهه، خو مړ یې نه کړ، کیوناري وویرید او د یوه هندي افسر په واسطه یې له امیر محمدیعقوب خان څخه د مرستې غوښتنه وکړه. امیر د خلکو او سپاهیانو د پاڅون او غونډې ځای ته خپل خسر سردار یحیی خان او خپل ولیعهد محمدموسی خان او یو شمېر درباري مخور واستول. تر څو هغوی د قرآن په لوړه او په زاریو خواره واره کړي، خلکو ونه منله او د سفارت په لوري ور روان شول، د کیوناري سکرتر مستر جینکنز د سفارت د یوه کارکوونکي تیمور نومې په لاس د سپاهیانو مشر کریم خان ته خبر

Scanned by CamScanner

ورته ویې ویل که چېرې نظامي پاځون کوونکي، بالاحصار له خوا و شا څخه لرې شي، نو د ېستاوه او ورته ویې ویل که چېرې نظامي پاځون کوونکي، بالاحصار له خوا و شا څخه لرې شي، نو د بریتانیا سفارت به د لښکر هر سرتیري ته د شپږو شپږو میاشتو معاش ورکړي. البته تیمور له خبرو سره بر ځای د خلکو تر پښو لاندې شو او د خلکو خپل پرمختګ ته دوام ورکړ. دا هماغه پېښه وه، چې وروسته وروسته بیا انګرېز د خپل حیثیت او پرتم د ساتنې په خاطر هغه په بله بڼه واړوله او ویلې یې، چې دا خو په اصل کې سپاهیان د خپلو شپږو میاشتو معاش په خاطر ورغلي وو، خو انګرېزانو په غلطه وزې وربانديې وکړې او دغه پېښه رامنځته شوه.

تر هغو پاځون کوونکي د سفارت ودانۍ ته ننوتل په پرله پسې توګه د انګرېزانو د ۲۰۰ تنو افسرانو او سرتیرو تر ډزو لاندې وو، خو کله چې د بریتانیا د سفارت ودانۍ ته ننوتل، نو کیوناري او نور انګلیسي افسران یې ووژل، بیا یې د سفارت ودانۍ، د انګرېزانو بیرغ او مړي ټولو سوځول او په ایرو یې بدل کړل.

## دانګرېزانو بیا ځلي سوقیات

کله، چې د ۱۸۷۹م. کال د سپتمبر په ۳-۴مه په کابل کې د انګلیس سفارت، چې د ګندمک د خائینانه تړون د تطبیق عامل و تباه شو. امیر محمدیعقوب خان د پر ژر دغه پېښه د یو لیک په ترڅ کې جنرال فریدریک رابرتس ته ولیکله او ورته ویې لیکل، چې په کابل کې یو عمومي انقلاب دی، زه په خپله په شاهي ماڼۍ کې ایسار یم او له دغې پېښې څخه خواشینی یم، دغه خبر په هند او لندن کې د انګلیس په نظامي او سیاسي ځانګو کې د تندر په شان اغېزه وکړه، د هند وزیر له لندن څخه وایسرا لیټن ته په ټلګراف کې وویل، چې لندن له تاسو سره په ټولو چارو کې د ملکې د حکومت. د بریتانیا د پت او نوم د ترلاسه کولو او د انګلیس د سفارت د استازیو د قتل په غچ اخیستو کې مرسته کوي. لیټن جنرال رابرتس ته مخ په افغانستان باندې د مارش قومنده ورکړه او هدایت یې ورته وکړ، چې افغانستان په دې باندې وپوهوي، چې انګرېزي لښکر نور افغانستان نه پرېږدي او د تل لپاره یې نیسي، خو هغه کسان چې انګرېزانو سره دوستي کوي. له هغوی څخه به ملاتړ وکړي. همدا رنګه لیټن امر وکړ، چې یوه فرقه عسکر به له خیبر څخه تر جګدلک پورې وړاندې ولاړ شي او د اړیکو کرښه به وساتي. جنرال استوارت هم له خپل لښکر سره ځای بیا په کندهار ورغی. د کندهار حاکم سردار شیرعلي خان پرته له دفاع څخه ښار پرېښود او په خپله یې په خاینانه توګه د انګرېزانو چوپړ ته ملا وتړله او دا یې ومنله، چې انګرېزي سرتیري به د تل لپاره په کندهار کې مېشت شي او په خپله به د یوه هندي نواب په توګه د کندهار د حاکم په توګه پاتې شي. استوارت د کندهار حکومت سردار شیرعلي ته ورکړ، چې د بریتانیا د دولت په نمایندګۍ یې اداره کړي. لیټن لندن ته مشوره ورکړه، چې کندهار په قطعي توګه د بریتانیا په قلمرو پورې وتړل شي او د وسپنې پټلۍ دې ور وغځول شي، دا ځکه چې لیټن د ګندمک د تړون عملي کېدل، هغه وخت ممکن بولي، چې افغانستان تجزیه شي او د انګرېزانو تر واک لاندې په ویشلې بڼه پاتې وي. هغه به ویل، چې که چېرې انګلیس کندهار ځان سره وتړي، نو کېدای شي، چې هرات او سیستان په

Scanned by CamScanner

مشروط ډول ایران ته ورکړي.
د ۱۸۷۹ کال د دسمبر په میاشت کې د لندن د وزیرانو غونډې هغه مهال، چې د انګرېزانو پوځ افغانستان کې وروستی سلګۍ وهلې، خپله پرېکړه د ګندمك د تړون په هکله پای ته رسېدلې وبلله او د افغانستان ویش یې یو واقعیت وباله او دغه پرېکړه یې لیتن ته واستوله. لیتن وویل، چې باید کندهار او کابل یو بل څخه جلا شي (هغه دغه خبره د سردار شیرعلي خان او سردار ولي محمد په خوله کوله) او ویل یې، چې د افغانستان نظامي اشغال هم باید دوام ومومي او د کابل په جنوب کې دې یو نظامي کانتون جوړ شي او د افغانستان د نورو ولایتونو (د هېواد شمال) په هکله دې د روس چلند پر مخ بوتلل شي، حال دا چې تر دې مخکې د همدې ۱۸۸۹ کال په اکتوبر کې د هند وزیر سالزبري له لندن څخه په تهران کې د انګلیس سفیر تامسن رولدت ته ولیکل، چې هرات دې ایران ته ورکړل شي (د خلیپه له کیسې څخه) تامسن د ایران حکومت ته لاندینۍ پروژه وړاندې کړه:
۱- د ۱۸۵۷ کال د تړون د مقرراتو سربېره (د انګلیس او ایران تر منځ هغه تړون، چې د هغه له مخې ایران ژمنه کړې وه، چې په هرات کومه دعوا نه لري) د ایران پاچا ته دا واك ورکړ، چې هرات او د هغه شا و خوا په مشروط ډول ونیسي او د انګلستان مکناتېن د دغه تړون د حکم سره سم خپل حق محفوظ بولي، تر څو چې د ایران پاچا د ملکي باور ډاډمن کړي او لکه د یوه رښتیني دوست په شان ورسره چلند وکړي.
۲- ملکه حق لري، چې په مخامخ ډول یو استازی غوره او یا هم ځینې کسان هرات کې وګوماري.
۳- ملکه کولای شي، چې د اړتیا پر مهال د سرتیرو د روزنې او د مورچو د جوړولو او د ودانیو د رغولو لپاره خپل یو شمېر افسران هرات ته واستوي.
۴- ملکه به د خطر پر مهال هرات په عسکرو سره ونیسي.
۵- پرته له انګلیس څخه د بل هېڅ دولت افسر یا استازی به هرات او د هغه شا و خوا نشي مېشت کېدای.
۶- که په راتلونکي کې هرات د تل لپاره ایران ته ورکول کېږي، نو فراه به ورسره نه وي.
۷- د ایران پاچا ژمنه کوي، چې د مالیاتو په ټاکلو کې به له ملکې سره سلا مشوره کوي، که چېرې تر کندهار پورې تلګراف او د وسپنې پټلۍ غځول کېږي، تر ممکن حد پورې به پاچا له ملکې سره مرسته کوي او د هرات د مالیاتو په زیاتولو کې به مرسته کوي.
۸- پاچا به له ملکې سره یو داسې تړون لاسلیك کوي، چې د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګریزو اړیکو کې آسانتیا راوستل شي.
دغې پروژې د تامسن د وړاندې شوې نظریې یو اصلاح شوی شکل درلود، چې په هغه کې مهم ټکي دا وو:
۱- په هرات کې دې د خطر پر مهال د انګلیس د نظامي اشغال حق خوندي شي.
۲- ایران دې ژمنه وکړي، چې روسان به مرو نه نیسي.

Scanned by CamScanner

په سیاسي چارو کې د انګلیس لارښوونو ته غوږ ږدي.
۳. ایران به په دغو ټکیو څخه سرغړونه کېږي، نو د ۱۸۵۷ کال تړون ته به مراجعه وشي، خو د ایران
۴. که چېرې له ۱۸۸۰ کال د فروري په میاشت کې د انګلیس د سفیر پروژه رد کړه او ناصرالدین شاه تامین
حکومت د لاسلیکه لیك واستاوه او ورته یې وي، چې د هرات نیول په دغه وړاندیز شوې بڼه باندې د
نه یې یو بې ګټې نه دي، انګلیسانو غوښتل، چې د افغانستان په حساب له ایران سره معامله وکړي او هغه
ایران په سیاسي نانځکه وګرځوي، حال دا چې روس دا ډول لوبه نه غوښته.
خان ته یوه

په هر حال، رابرتس له پیواړ څخه امیر محمد یعقوب خان ته یو لیك واستاوه او په هغه کې یې ورته
ولیکل، چې تاسې والا حضرت د ګندمك د تړون له تطبیق څخه عاجز یاست او په کابل کې د انګلیس
سفارت له منځه ولاړ، نو ځکه انګلیسي پوځ کابل ته درځي تر څو چې ستاسې سلطنت وساتي او د
بریتانیا د سفارت د استازیو قاتلانو ته سزا ورکړي ستاسو والا حضرت به ماته خپل یو د باړ وړ سړی د
خبرو لپاره راواستوئ. رابرتس، چې له یوې فرقې عسکرو او یو درجن انګلیسي خبریالانو (لکه جنرال
مکفرسن، جنرال بیکر، جنرال میسي او نورو) سره کابل ته تګ ته چمتو و ، د افغانستان د خلکو د
دوکه کولو په خاطر په تیره بیا د هغو خلکو د غافل کولو لپاره، چې د عسکرکښۍ د لارو خواوو سره
پراته وو، د ۱۸۷۹ د سپتمبر په ۱۲مه یې بېلا بېل اعلانونه خپاره کړل او د لوګر، پکتیا، غزني او
کابل خلکو ته یې اعلان کړه، چې د لښکرو دغه راتګ کابل ته د امیر محمد یعقوب خان په بلنه کېږي،
چې موخه یې د افغانستان د امیر د سلطنت د ټینګول او د سفارت د غړو له قاتلینو څخه یې غچ
اخیستل دي او بس. له نورو خلکو سره کوم کار نه لرو، له دې لامله چې زړه سوی او رحم او انسانیت
دبریتانیا د دولت یوه ځانګړتیا(۱) ده، نو د انګلیس ځواکونو ته هر ډول خوراکي مواد ورسول به د پیسو
په وړاندې وپیرودل شي.

د ۱۸۷۹م. کال د سپتمبر په ۲۱مه د امیر محمد یعقوب خان استازي (مستوفي حبیب الله خان او مرزا
شاه محمد د بهرنیو چارو وزیر) علي خېلو کې رابرتس ته ورغلل او خبرې پیل شوې. افغاني استازیو
داسې مشوره ورکړه، چې انګرېزان به کابل ته خپل سوقیات وځنډوي تر څو امیر محمد یعقوب خان د
انګلیس د سفارت د کار کوونکو قاتلان، چې په هره سیمه کې وي پیدا او هغو ته سزا ورکړي. خو که
چېرې انګرېزي پوځونه د کابل خوا ته روانېږي، د بریتانیا په ضد به د افغانستان د خلکو بریدونه پیل
شي او په بلخ او هرات کې هم د انګرېزانو په وړاندې د خلکو د پاڅون اټکل کېږي، خو رابرت چې د
افغانستان د دایمي نیولو په کار ګومارل شوی و او له بلې خوا نوموړی د کابل د سپتمبر د دریېمې په
پاڅون کې امیر محمد یعقوب خان ته د لاس شتون هم باله. نو د افغاني پلاوي نظر یې رد کړ او د سپتمبر
۲۵مه یې هغوی بېرته راستانه کړل. تر دې مهاله پورې سردار ولي محمد خان لاتي، چې دا مهال د لوګر
خوشي ته د امیر محمد یعقوب خان له خوا رابرتس د هر کلي په خاطر استول شوی و، رابرتس ته خان
ورساوه او د پاچاهۍ د ترلاسه کولو لپاره یې ورته خدمت وړاندې کړ او د کیوناري په ضد یې د کابل د
سپاهیانو او خلکو په پاڅون کې امیر محمد یعقوب خان هم تورن کړ. امیر محمد یعقوب خان، چې پوه

شو چې انګرېزان خامخا په کابل باندې راځي. نو د خپل ځان د ساتنې په خاطر یې رابرټس ته ولیکل، چې: له دې لامله چې د انګرېزانو د سوقیاتو موخه زما د سلطنت ساتل دي. نو ځکه مې خپلو چارواکیو ته حکم کړی، چې د انګرېزانو د راتګ مخه ونه نیسي. دا وه د میلیونونو خلکو په وړاندې د یوه مطلق العنان او نامسئول دولت د چلند پایله.

## په کابل کې

په هر حال، جنرال رابرټس، چې اوس په افغانستان کې د انګرېزانو د اردو عمومي قومندان وو، د شترګرن په سیمه کې یو لنډ مقاومت څخه وروسته د لوګر ناوې ته راورسېد او د خلکو له خوا یې د بېلا بېلو بریدونو په منلو سره ځان د ۱۸۷۹ کال د اکتوبر تر پینځمې پورې کابل ته رانږدې کړ. په داسې حال کې، چې له شترګردن څخه یې تر کابل پورې د لارې په ترڅ کې یو شمېر افسران او سرتیري له لاسه ورکړي وو. امیر محمدیعقوب خان، چې تر خوشې پورې هڅه وکړه، چې رابرټس کابل ته له راتګ څخه واړوي او هلته ورغلی و، نو د یوه بندي په توګه د دښمن لاس کې پرېوت. کله چې خلکو په چهارآسیا کې په خپلو رنګه توغونو سره د دښمن مخه ونیوله، امیر محمدیعقوب خان د انګرېزانو د کمپ له یوې لوړې څخه ددغې خونړۍ جګړې ننداره کوله. چې یوې خوا ته منظم توپچي او لښکر و، بلې خوا ته هغه ولس چې د وطنپالنې او خپلواکۍ غوښتنې په احساساتو سره یې خپلې وینې د خپلې خاورې په خاطر نذرانه کولې او په توره او چړې سره یې د دښمن د توپچي مخې ته وردانګل. په چهار آسیا کې د ملي مبارزینو ډلو او بیا په تېره په (سنګ نوشته)، کې د دښمن د توپچي د ډزو له لامله ډېر تلفات وزغمل. دښمن د توپ په زور خپله لاره تر بیني حصار پورې پرانیسته او د ۱۸۷۹ کال د اکتوبر تر شپږمې پورې کابل ښار ته ننوتل ،یعنې د انګلیس د جنګ له اعلان څخه لس میاشتې وروسته دوی لومړی ځل کابل ته ورسېدل، رابرټس تر شپږو ورځو پورې خپل پوځونه د مرنجان په غونډۍ او د ښار په نورو لوړو برخو کې ځای پر ځای کړل او خپلې مورچې یې په توپونو سره کلکې کړې او بیا یې د خوراکي توکیو او بوسو په زېرمه کولو پیل وکړ.

رابرټس د هغه پروګرام عملي کولو ته ډېره بېړه لرله، چې له لیټن څخه یې ترلاسه کړې و، نو د خپل راتګ پر همدا شپږمه ورځ یې په کار پیل وکړ. د لیټن دغه پروګرام داسې و، د افغانستان د پلازمېنې د بالاحصار د ښار ویجاړول. د ټولو جنګي کلاوو نړول، د مالي خزانو او نظامي زېرمو نیول، د ملي مبارزینو اعدامول او د خلکو د هر ډول مقاومت ماتول، تر څو په پای کې ټول واک په خپل لاس کې واخلي او انګلیسي نظامي حکومت واکمن کړي او د افغانستان د ویش په واسطه د انګلیس د دایمي واکمنۍ لپاره لاره هواره کړي، دغه ځرګند پروګرام یوه پټه تعلیماتنامه درلوده، چې په هغې کې خیانت دوکه چل، د فساد جوړول، د اخلاقو بې لارې کول، د نفاق اچول او په افغاني ټولنه کې د دښمنۍ پارول و.

رابرټس د همداسې یوه، پروګرام د تطبیق په خاطر خپل فعالیت د انګلیس د استعماري وحشت او ترډد

پر بنسټ او د دوکې او غدر په وسایلو پیل کړ، نو ځکه یې د ۱۸۷۹ کال د اکتوبر پر ۱۱مه یوه اعلامیه خپره کړه او ویې ویل، چې باید د کابل خلک ټول مامورین او افسران د اکتوبر په ۱۲مه د بالاحصار ډګر ته راشي او په افغانستان کې د انګلیس د حکومت پروګرام ته دې غوږ ونیسي. خلک د دوی د خبرو د اورېدو لپاره د بالاحصار ډګر ته ورغلل او د انګرېزانو د منظمو صفونو په منځ کې یې رابرتس ولید، چې په ګنجي سر او جنرالي په دریشي کې راڅرګند شو. له همغې شېبې څخه خلکو هغه ته د ګنجي رابت (رابت کل) نوم ورکړ او له افغانستان څخه د هغه د شړل کېدو تر ورځې پورې یې ورته همدا نوم اخیست. کله چې له رابرتس سره د خلکو جګړه پیل شوه، د جګړې پر ډګر لاندې بیتونه ویل کېدل:

محمد جان خان مرد میدان است
ایوب خان شیر غران است
میر بچه خان رس رسان است
آزادی فخر افغان است
رابت کل لات کلان است
بیا بیادر انګور بخو

په هر حال، رابرتس اعلان وکړ، چې: په بله ورځ بالاحصار نړول کېږي، خزانې او جبه خانې د انګلیس په حکومت پورې اړه پیدا کوي، له دې څخه وروسته د کابل حکومت د انګلیسانو د نظامي حکومت په لاس کې دی. د کابل په پېنځه میله واټن کې په وسله وال ګرځېدو باندې بندیز دی او هر چا سره، چې وسله وه اعدام کېږي، نو خلک باید خپله وسله حکومت (انګرېز) ته وسپاري، پر ځای به یې پېنځه کلدارې ورکړل شي (هغه وخت کې یو پټاقي ټوپک پېنځلس کلدارې او رایفل ټوپک ۴۰ روپۍ بیه درلوده) او د یوه وژل شوي دیت ۳۰۰ روپۍ و) او خلک دې د انګلیس لپاره د اړتیا وړ توکي او خوراکه د پیسو په وړاندې را ورسوي. خلک باید ټاکلې مالیه انګلیسانو ته ورکړي. د انګلیس په سفارت باندې باید یرغل کوونکي د انګلیس حکومت ته وسپاري او د هر یوه په وړاندې دې د ۷۵ کلدارې او د هر لوی افسر په وړاندې د ۱۲۰ کالدارې ترلاسه کړي، د کابل نظامي حاکم جنرال جیمز هلز او ملکي حاکم نواب غلام حسین هندي دی. د نظامي محکمې قاضي جنرال میسي او د ملکي محکمو قاضیان میجر کریګر، سارجن بیلیو او ډپټي محمد حیات خان دي. وروسته تر دغو خبرو څخه رابرتس د بالاحصار په دروازه باندې د کیوناري د هغه بیرغ پر ځای، چې خلکو سوځولي وو د انګلیس بیرغ هسک کړ. د کابل خلکو د رابرتس وینا ټوله واورېدله او پرته له دې، چې څه ووایي ټول راستانه شول او له بالاحصار څخه بهر یې خپلو منځو کې وویل، چې: کمناري په شپږو اونیو کې له منځه ولاړه، خو د رابت لپاره ډېر وخت په کار دی، ځکه چې سرتیري یې ډېر دي. کله چې امیر محمد یعقوب خان د بریتانیا چلند ته کتل، نو د بالاحصار د اکتوبر د ۱۲ مې نېټې غونډې ته د رابرتس په بلنه ورنغی او

خپل استعفا لیك یې رابرټس ته واستاوه، خو دا مهال هغه د انګرېزانو په لاس کې یواځې یو بندي و. رابرټس په هغه سبا باندې په کابل کې د انګرېزي پوځ یو پرېټ ترسره کړ، تر څو د خلکو سترګې وسوځوي، ورپسې یې د بالاحصار ښار په خپلو سپاهیانو باندې ویجاړ کړ او ویې سوځاوه. د کابل یو نامتو پوه او مخور میر احمدشاه خان هڅه وکړه، چې رابرټس په خبرو-اترو سره د کابل د نوي مهم ودانیو له سوځولو څخه راوګرځوي او را ویې ګرځاوه هم. له دې لامله، چې د کیوناري پر سفارت باندې برید کوونکي، چا رابرټس ته ونه سپارل، نو په خپله یې د کابل درې نامتو کسان (جنرال خسرو خان نورستاني، محمد اسلم خان کوتوال او سردار سلطان عزیزخان د نواب محمدزمان خان زوی) یې، چې د برید کوونکو په ډله کې وو، راوغوښتل او پانسي یې کړل، لږ وروسته بیا د انګرېزي سپاهیانو شمېر ۳۰ زرو تنو ته ورسېد، چې ۴۲ توپونه یې لرل. پرته له هغو توپونو څخه یې، چې له افغاني توپچي څخه یې ترلاسه کړي وو. د رابرټس له امر سره سم د کندهار انګرېزي پوځ هم مخ په کابل را روان شو. خو په لاره کې د غلجیو مقاومت سره مخامخ شو او د شاه جوي په سیمه کې ۵۰۰ تره کو د لاس او ګرېوان جګړه ورسره وکړه، د همدغه لاس-ګرېوان جګړې په ترڅ کې د مجاهدینو مشر (صاحب خان) له خپلو ۲۰۰ ملګرو سره ووژل شو. پیر محمد ددغو ننګیالیو هغه یو تن و، چې ۱۳ ځایه ټپي شوی و او بیا یې بشپړ پرې شوی و، د غلجیو دغې اتلولۍ او سربښندنې انګرېزانو ته ملا ماتوونکي ګوزارونه ورکړل او بېرته کندهار ته په شا تګ ته اړ شول. له دې پېښې وروسته رابرټس د سیا سنګ له لښکر کوټ څخه د شیرپور چونۍ ته کډه وکړه او د هغې په ختیزه څنډه کې یې یو دیوال اوچت کړ، چې د امیرشیرعلي خان له مهاله نیمګړې پاتې و. دلته یې څه نور عسکري استحکامات او مورچلونه هم ټینګ کړل. د بې بې مهرو غونډۍ لاندې یې نظامي برجونه هسك کړل او اغزي لرونکي سیمان یې ورڅخه تاو کړل، توپونه یې ودرول او د پنځو میاشتو لپاره یې خوراکي توکي او واښه او بوس زېرمه کړل، په دې توګه شیرپور، چې د شمال له لوري، چې د وزیرآباد د چمن ډنډ ایسار کړی و، درې نورو خواوو ته یې د اووه متره په لوړوالي پنډ دیوالونه او جنګي برجونه جوړ او د یوه کلك جنګي ښار بڼه یې غوره کړه. همدا رنګه په سیا سنګ او د بالاحصار په نړول شوي ښار کې د نظامي کلاوو بنسټ کېښودل شو رابرټس په خپلو دغو فعالیتونو سره انګلستان کې نوم وګاټه د انګلیس ملکې په لیکلې توګه هغه ته مبارکي ورکړه او لیتن هغه ته د لفتننت جنرالۍ رتبه ورکړه. رابرټس په ځان باندې ډېر غره شو او ځان یې د افغانستان نایب السلطنه وګاڼه. هغه به په ټولو هغو دربارونو کې، چې په شیر پور کې یې جوړول، په رسمي جامه کې په چوکۍ باندې کېناست او تسلیم شوي سرداران به یې خپلو دوو څنګونو ته په ځمکه باندې کېنول، رابرټس د نوامبر په پای کې بندي کړل شوي امیر محمد یعقوب خان له یو شمېر عسکري قطعاتو سره هندوستان ته واستاوه، ورپسې یې د بهرنیو چارو وزیر میرزا شاه محمد خان او د امیر خسر سردار یحیی خان او بیا یې سردار ذکریا خان هم هملته تبعید کړل، خو صدراعظم مستوفي حبیب الله خان او سپه سالار داود شاه خان د انګرېز په جیل کې پاتې شول، حال دا چې رابرټس (په خپله عقیده) د نوامبر په ۱۲مه (عمومي عفو) اعلان کړه، خو د کیوناري په سفارت یرغل کوونکي په دغه

Scanned by CamScanner

عفو کې را نغلل. رابرت د دغې یوې نیمې میاشتې په ترځ کې ځان د نیمایي افغانستان واکمن کړی و. نو هغه یې پیل کړه، چې نیم نور هم ونیسي، د ه د یوې ژمنې له مخې کندهار سردار شیرعلي خان ته ورکړ او ورسره یې ورسره وکړه، چې انګلیسي عسکر به د تل لپاره هلته مېشت وي. نو سردار ولي محمد خان یې د هغه له پوځ سره د والي په توګه هلته مقرر کړ، چې د افغانستان شمالي ولایتونو ته ولاړ شي، له بدخشان او قطغن څخه نیولې تر بلخ او میمنې پورې ونیسي او د انګلس د حکومت له خوا هلته حکومت وچلوي، خو د دې کار وخت ورته برابر نه شو، دا ځکه چې د دسمبر میاشت راورسېدله.

## د خلکو عمومي پاڅون (د ۱۸۷۹ دسمبر)

کابل ته د انګرېزي لښکر د راتګ ۵۵ ورځې تېرېدې، په دغه موده کې د کابل لرې او نږدې خلکو د انګرېز په وړاندې د دفاع لپاره ځانونه چمتو کول. په تېره بیا د ژمي په راتګ سره د هېواد بزګران له کښت او کار څخه وزګار شوي وو، نو کله چې امیر محمد یعقوب خان هند ته تبعید شو، د انګرېزانو د دوکې او ریاکارۍ پرده ښېخي ولویده او خلک پوه شول او پاڅېدل. په کابل، کوه دامن او کوهستان کې د نظامي افسر محمد کریم خان، غلام حیدرخان کابلي، میربچه خان کوه دامني، میرعبدالقادر خان او پیاني (د پرویز شاه خان پغماني ورور) په مشرۍ، په تګاو او نجراو کې د محمد عثمان خان ساپي او د هغه د ورور محمدشاه خان په مشرۍ، په لوګر کې د غلام حیدر خان څرخي (چې وروسته بیا سپه سالار شو) سمندرخان او محمد حسن خان لوګري، په مشرۍ په میدان وردګ کې د جنرال محمد جانخان وردګي په مشرۍ او په غزني اوزابلستان کې د ملا دین محمدخان اندړ (ملا مشك عالم عبدالقادر خان غزنوي، ملا عبدالغفور خان لنګري او ګل محمدخان اندړ په مشرۍ، په هرات کې د نایب سالار حفیظ الله خان او سردار محمد ایوب خان په مشرۍ، په ننګرهار کې د عصمت الله خان جبارخېل په مشرۍ او د نورو لسګونو ننګیالیو په ګډون د خلکو غونډې او پاڅونونه پیل شول. څرنګه چې ملا مشك عالم په غزني کې د امیرعبدالرحمن خان حاکم سردار محمدحسن خان ته ویلی و، په افغانستان کې د دغه ملي انقلاب د رهبرانو شمېر څه نا څه درې زره تنو ته ورسېد، لومړی ځل د دسمبر په لومړۍ نېټه خبر خپور شو، چې امیر یعقوب خان له هېواد څخه ایستل شوی دی، د دسمبر په دوهمه نېټه، چې ملا مشك عالم خان د امیرالمؤمنین (محمد یعقوب خان) له بیعت څخه په شرعي توګه خلاص وباله په غزني کې یې د پرنګیانو په وړاندې جهاد اعلان کړ، په دې توګه په هر ځای کې خلك په ډاو طلب ډول راټول شول او مخ په کابل را روان شول. دغه فداکار ولسي لښکر، چې نه یې توپ او توپچي لرل او نه جبهه خانه او د خوراکي توکیو زېرمه یې هم ګرځنده نه وه، یواځې یو ټوپك په اوږه و یا به یې هم یوه توره په لاس کې وه او یوه نیمه چاړه یا کرچ به یې تر ملا تړلې و.

د ولسي پوځ د مشرانو پروګرام داسې و، چې د کوه دامن او کوهستان ننګیالي به د ښار په شمال، کاریز میر او د خیرخانې په غاښې کې مورچل او لښکرکوټ جوړوي. دوی به د کابل په لویدیځ کې آسمايي غر او د هغه شا و خوا لوړې ونیسي، د ارغندي او پغمان ننګیالي به د کاریز میر له مبارزینو سره یو ځای

کېږي، د پکتیا او لوګر مجاهدین به له بیني حصار، د شیر دروازې تر څوکې پورې او د کابل په جنوب او جنوب لویدیځ کې د تخت شاه غرونه او نورې حاکمه سیمې ونیسي د بګرامي بت خاك او جبارخېلو جنګیالي به یك لنګه غونډۍ او سیاه سنګ د ښار په ختیځ کې ونیسي. د میدان-وردګ او غزني خلك به د ګذرګاه له تنګي څخه مخامخ ښار ته ننوځي او په شیرپور کې به د دښمن چونۍ باندې برید کوي، په دې توګه به د دښمن د اردو پوځ باندې د تېښتې لاره له څلورو خواوو څخه ونړي او د انګرېزانو ټول ځواك به تباه کوي، سردار ولي محمد خان لاتي او د هغه جاسوسان د ملي سپاهیانو له دغې نقشې څخه خبر شول او جنرال رابرتس ته یې خبر ورکړ، جنرال په بیړه ځان جګړې ته چمتو کړ او د خپل پوځ یو کنډك یې د بریکیډیر میکفرسن او د امیر دوست محمد خان د زوی سردار محمد حسن خان تر مشرۍ لاندې یې، د شمالي جبهې (کاریزمیر) ته واستاوه، بله برخه پوځ یې د بریکیډیر بیکر او د سردار سلطان احمد خان غازي د زوی سردار عبدالله خان په مشرۍ لویدیځ جبهې (ارغنداب) ته واستاوه، تر څو د غزني ځواکونه د کوهستان او پغمان او ارغنده له ځواکونو سره یو ځای نشي او د میدان د ځواکونو مخه ونیسي او په خپله د یوه ملاتړي ځواك په توګه شیرپور کې پاتې شو، په داسې حال کې، چې یو ټولې عسکر یې په افشار کلا کې دیره وو. کله چې د پغمان مجاهدین د پرویز شاه خان د ورور تر مشرۍ لاندې د کاریز میر خوا ته د تګ لپاره چمتو شول، میکفرسن په بیړه کاریز میر برید وکړ، میربچه خان د دسمبر د نهمې شپې تر نیمایي پورې توپچي لرونکی دښمن په وړاندې جګړه وکړه او د دسمبر په لسمه یې د کاریز میر شا و خوا کلاوو کې له خپلو ځواکونو سره مورچلونه ټینګ کړل. د دسمبر په یوولسمه د جنرال محمد جانخان قاضي کلا ته راورسېدل. رابرتس امر وکړ، چې میکفرسن دې له ښي اړخ (کاریزمیر) څخه پر ملي پوځ یرغل وکړي او د جنرال میسي پوځونه دې له کیڼ اړخ (افشار کلا) څخه برید وکړي او دواړه پوځونه دې یو بل ته ځان ورسوي، خو داسې ونه شول، میربچه خان له خپلو ځواکونو سره یو ځای په میکفرسن باندې د برېښنا په شان برید وکړ، انګلیسي جنرال ته د شا تګ وخت په لاس ورنغی او له بلې خوا د محمد جانخان ځواکونو د میسي پوځ تر برید لاندې راوست د بیکر کنډکونه په چهار آسیا کې ناڅاپه د لوګر د خواکونو تر برید لاندې راغلل، په دې ټولو ډګرونو کې د یرغلګر دښمن پوځونه وتکول شول او درانه زیانونه ور واوښتل کله. چې جنرال رابرتس د وضعیت خطرناك والي باندې پوه شو. په خپله له خپل ځانګړي ځواك سره د محمد جانخان مخې ته ورغی له اونچي باغوانانو څخه د تېرېدو پر مهال د یوه چاردهي وال ځوان له برید سره مخامخ شو، خو د بنګال پوځ یوه هندي سپاهي (مظهرعلي) وژغوره. قاضي کلا ته نږدې د رابرتس او ملي پوځونو تر منځ یوه کلکه جګړه ونښته. دغه نامتو جګړه دومره سخته وه. چې په لاس او ګریوان جنګ واوښته. رابرتس د جګړې ټولو محاذونو ته امر ورکړ. چې انګرېزي ځواکونه دې له ټولو ځایونو څخه بې له ځنډه شیرپور ته په شا شي د کابل ښار انګرېزانو ته یې امر وکړ. چې ښار پرېږدي او شیر پور ته پناه یوسي. هلته یې د شیرپور دروازې وتړلې او د برجونو او دیوالونو شاته په دفاعي حالت کې پاتې شو.

د شیرپور ټولو ځواکونو ته یې امر وکړ، چې سپاره ځواکونه دې د ګذرګاه او دهمزنګ په سیمو کې

Scanned by CamScanner

ښکروني او د انګرېزانو د جګړې د وروستۍ کړښې ساتنه دې وکړي. خو مخکې له دې، چې د جنرال رابرتس وروستي لېږل شوي پوځونه وتښتي، په خپله په خپل ځانګړي آس سپور شو. دا ځکه چې ده د لومړي ځل لپاره د انګرېزي ځواکونو له منځه تلل په سترګو ولیدل. هغه د خپل لښکر له مړو څخه واړښت او لکه د مرغۍ په شان مخ په شیرپور ورسېد او دده د پوځ څلوېښت تنه پاتې کسان هم ونوانېدل، چې په جنرال پسې ور ورسېږي، سره له دې، چې په دهمزنګ کې جنرال ولیدل، چې د دوی ځواکونه په ګذرګاه کې له دوو خواوو څخه د کابل سیند دوه غاړې ښې ساتي، خو د ننګیالیو له ویرې دهمزنګ ته ننوت او د کلیوالو خلکو په کورونو کې پټ شو. د هغه توپکوال ساتونکي په بامونو وختل او دده ساتنه یې پیل کړه، دې پسې وروسته د بلخ او تخار نوی ټاکل شوی والي سردار محمدولي خان له خپل پوځ سره راورسېد او د دهمزنګ د ساتنې دنده یې په غاړه واخیسته، خو د هغه ملي سرتېرو پاځون وکړ د هغه ټوله شتمني او سامان یې لوټ او په خپله له ملي مبارزینو سره یو ځای شول. د شپې په تورتم کې د شیرپور ساتونکي ځواکونه را ورسېدل او جنرال په بېړه هغوی سره مخ په شیرپور ولاړ او په نیمه شپه کې د شیرپور کلکو مورچو ته ورسېد او په امن کې شو. په دغه شپه باندې له جګړې څخه راتښتېدلي انګرېزان یو په بل پسې شیرپور ته راتلل. ددغې شپې په سبا باندې د انګلیس ټول ځواکونه یوازې د شیرپور دننه په کلابند ډول راټول شول او دا ځکه چې ټول کابل ښار او د هغه شا وخوا او غرونه د ملي مبارزینو لاس ته ورغلي وو او دا دی وروسته تر ۳۲ کلونو څخه یو ځل بیا د مکناټن او الفنسټن داستان تکرار شو.

نو جنرال رابرتس له یوې خوا خپل د بتخاک ځواکونه او له بلې خوا په ګندمک کې د جنرال ګلف فرقه شیرپور ته راوغوښتل او د وژل شویو ځای یې ورباندې ډک کړ. له بلې خوا نوموړي په همدغه میاشت یعنې دسمبر کې دوه ځله له هندوستان څخه دوه مرستندویې فرقې راوغوښتلې او دغه دواړه فرقې عسکر د دسمبر په ۲۴مه او له هغه وروسته کابل ته راورسېدې، خو د انګرېزانو هغه مرستندوی ځواکونه، چې له جلال آباد څخه کابل ته را روان شول، د لغمان د ننګیالیو تر برید لاندې راغلل او وروسته تر یوې جګړې څخه یې د توپچي په زوزر خپله لار د کابل خوا ته پرانیسته. جنرال رابرتس، چې یو کار پوهه افسر و، د شیرپور د هرې څنډې دفاع خپل یوه یوه جنرال ته وسپارله لکه بریګید جنرال میکفرسن، بریګید جنرال هوج ګف میجر جنرال هلز او کلنل جنکتر ته یې د ساتنې دندې وسپارلې، او د شیرپور د مرکز قومنداني یې، جنرال میسي ته ورکړه، د احتیاط قومندان جنرال بیکر وټاکل شو، جنرال رابرتس، چې پخوا یې غله او نور توکي د پینځو میاشتو لپاره زېرمه کړي وو، د برجونو په ټینګولو سره یې خان ډاډمن کړ، چې ملي پوځونه دغه لویه کلا نشي نیولای، دا ځکه چې د شیرپور دېوالونه پرته له قوي توپچي او درنو وسلو څخه نه ماتېدل، په داسې حال کې، چې ملي ځواکونو لوی او درانه توپونه نه لرل. رابرتس په شیرپور کې د انګلیسي اردو د پینځه میاشتو لپاره د دفاع نقشه جوړه کړه. په داسې حال کې، چې د ناڅاپي پېښو په تمه و، سیاسي پراخ فعالیتونه یې هم کول او د انګلیس د دولت مرستو ته سترګې په لاره و، ملي مبارزینو چې د دښمن پوځونه ځغلولي وو او په شیرپور یې دننه کړي وو. کابل

Scanned by CamScanner

ښار ته ننوتل تره خیلیانو مرنجان غونډۍ، د لوګر مبارزینو د سپه سالار غلام حیدرخان څرخي تر مشرۍ لاندې بالاحصار کې مرکزونه جوړ کړل او د تخت شاه او شیر دروازې لوړې څوکې یې کلکې کړې ملا مشك عالم او جنرال محمد جانخان هم په کابل کې ځواکونه درلودل. جنرال رابرتس لکه د یوه لیوه په شان په کپس کې لویدلی و، خو جنرال نه غوښتل چې تل په کلا بندۍ کې پاتې شي، نو ځکه یې د دسمبر په ۱۳مه د کلابندۍ د کړۍ د ماتولو په خاطر یو کلك برید وکړ او په دغه عمومي برید کې تر بیني حصار پورې وړاندې لاړ او توپچي پوځونو یې د یوې غونډۍ له اړخ څخه د تخت شاه څوکه تر اور لاندې ونیوله، له دې لامله چې د تخت شاه د لوړې څوکې کرښه له بیني حصار سره پرې شوه، نو د تخت شاه ساتونکي په یواځیتوب سره ددغه مورچل په ساتنه اخته شول. دغه جګړه څلور ساعته اوږده شوه او ساتونکي ټول ووژل شول، په دې توګه د تخت شاه لوړه څوکه د دښمن لاس ته ورغله. ملي مبارزینو د سیا سنګ غونډۍ هم ونیولې او د انګرېزانو اصلي مرکز شیرپور ته یې سیده ګوابښ پیښ کړ. په دې توګه جګړه د بیني حصار له خوا څخه د سیا سنګ په لوري راتاوه شوه، رابرتس چې یو کلك ګوابښ سره مخامخ شوی و، خپل ټول ځواکونه یې سیاه سنګ ته ورټول کړل او هلته یې یوه سخته جګړه پیل کړه. په پای کې د دښمن توپچي په دې بریالی شو، چې ملي مبارزین له هغه ځایه خواره واره کړي او د سیاه سنګ غونډۍ یې ونیولې او دې پسې یې آسمایي غره کې مورچلونه جوړ کړل، د شپې تیاره کې جګړه ودرېده او په سبا یې د دسمبر په ۱۴مه نوي ننګیالي له تګاو او نجراو څخه د محمدعثمان خان ساپي او د هغه د ورور محمدشاه خان تر مشرۍ لاندې راورسېدل او ټول د آسمایي تر غره لاندې راغونډ شول او د یوه برید په ترڅ کې یې دغه غر ونیو. هغه کلکه جګړه، چې دلته پېښه شوه، د هغې په ترڅ کې د دښمن ډېر مړي لکه د تیږو په شان له غره څخه ښکته راورغړېدل، رابرتس ددغه غره د بېرته نیولو په خاطر یو ځل بیا جګړه پیل کړه او دده توپچي ډېر کلك ګوازرونه پیل کړل، خو مجاهدینو ځان کلك کړ او له لږ جګړې څخه وروسته یې په زړورتیا سره د دښمن په توپچي باندې د تورو او کرچونو په ګوازرونو بریدونه وکړل. په دغه جګړه کې محمدعثمان خان د مجاهدینو په مخه مخه کې وړاندې ته، توره یې په لاس کې وه او پر دښمن یې ځپونکي ګوزارونه کول، تر څو چې د دښمن ګولۍ ورباندې ولګېده او له پښو ولوید. همدغه مېړني ته هغه مهال چې په تګاو کې یې خلك انګرېز سره د جګړې لپاره راټولول، دده ته یې د یوه خیلوان (سرفراز خان) له لوري دري لکه کلداري وړاندې شوې، چې له جګړې څخه لاس واخلي، خو ده او دده خلکو د انګرېزانو دغه پیسې ونه منلې، جګړې ته راغلل او دښمن یې وځاپه انګرېزانو د لاس او ګریوان په جګړه کې زړه بایلود، خپل توپچي یې په ډګر کې پرېښود او وتښتیدل. دا مهال د کابل د شمالي ننګیالي راورسېدل، د خیرخاني او سیاه سنګ غرونه او غونډۍ یې یو ځل بیا ونیولې، د کابل د غرونو د نیولو په دغه جګړه کې د کابل خلکو رنګ رنګ توغونه او جنډې ورپولې او د کابل ښځو ننګیالیو ته ډوډۍ او د اوبو رسولو دنده په غاړه اخیستې وه او دغو غرونو ته به یې خوراکي توکي رسول او لکه د غرڅو په شان به یې د اوبو او لوښو سره په تیږو کې ځغاستل. په دغه دنده کې د کابل ۴۰۰ ښځو برخه واخیسته، چې له هغو څخه یې ۸۳ تنه د آسمایي غره په جګړه کې

شهیداني شوې.

د عاشقان او عارفانو د عبدالله نومې د واده لـه ولولو ډك نكل د همدغو غرینو جګړو له مهال څخه را پاتې دی. عبدالله د كابل د عاشقانو عارفانو د سیمې یو اوسېدونكی و، چې له خپلې ګاونډۍ زهرا سره كوژدن و، د دسمبر د دیارلسمې ورځې په مازیګر د ناوې په كور كې د نكاح یوه لنډه غونډه جوړه شوه او مابنام عبدالله د واده مراسمو تـه ننوت او مور یې ورتـه پـه لاس باندې د واده نكریزې كېښودل، دا مهال ناوې وویل: د عاشقانو عارفانو ټول نارینه د پرنګي جګړې ته تللي دي اودلته د عبدالله واده دی، ځوان عبدالله د واده له تخت څخه پاڅېد او ویې ویل: هوا په داسې ورځ باید نارینه د جګړې پـه ډګر كې وي، نه په واده كې. زه ولاړم كه بېرته رانغلم زهرا به په بله نړۍ كې وګورم. عبدالله خپل كوز ته ولاړ توره او تومانچه یې واخیستـه او غـره تـه وخـوت سبا مـازیګر د عاشقانو او عارفانو ننګیالیو ، چې كلـه انګرېزان تر شیرپور پورې وشړلول د عبدالله جنازه یې راوړله او د هغې د بوډۍ مور په وره كې یې ورتـه كېښوده.

ناوې زهرا راغله او یواځې یې د عبدالله په نكریزو سره ګوته مچ كړه او د هغه مور ته یې وویل: ژاړه مه، زه تر څو ژوندۍ یم ستا زوی عبدالله یم. دغې پېغلې لكه هغسې یې، چې ژمنه كړې وه، تر څو مړه كېده د عبدالله په كور كې واوسېده او نوم یې په ټول كابل كې د درناوي وړ وګرځېد.

په هر حال، د دښمن لښكر د دسمبر له ۱۴مې نېټې وروسته یو په بل پسې له هر مورچل څخه پـه تېښتـه شول او ملي لښكر هغوی وځغلول او تر شیرپور چونۍ پورې یې د لاس او ګریوان جګړو پـه ترڅ كې ډېر ور وژل تر څو چې رابرتس پـه ډېر زیـار وتوانیـد ، خپـل پـاتې لښـكر د شیرپور د څلورو دیوالونو دننه یوځي او دروازې یې وتړي او لـږ یې دمه جوړه شوه، دغې جګړې جنرال رابرتس په دې باندې ډاډمن كړ، چې په افغانستان باندې واكمن كېدل آسانه كار نه دی او پـه دې هم وپوهېده، چې مكناټن او جنرال الفنسټن لكه هغسې، چې انګرېز لیكوالو لیكلي، پـه خپله ماتې كې هېڅ ملامت نه وو، دا ځكه چې هغوی په یوه داسې ملت تیری كړی و ، چې هر وګړي یې د خپلواكۍ او آزادۍ په خاطر خپله څاڅكي څاڅكي وینه څاروي.

په هر حال، رابرتس، چې د هندوستان د مرستې په تمه و ، سمدستي یې د ملي پوځ په وړاندې د شیرپور كلا كلكه كړه او هم یې دا هڅه وكړه، چې له افغانستان څخه د یوې آبرومندو تلو لارې چاره وكړي، پـه داسې حال كې، چې ولسي پوځونو ټول كابل او بالاحصار نیولی و، د كابل حكومت یې مشك عالم، د زابلستان د مبارزینو مشر او لاربنود تـه سپارلی و هغه سرداران چې دښمن ته تسلم شوي وو، لكه د امیر دوست محمد خان زوی سردار محمد حسن خان او د سردار سلطان احمد خان زوی سردار عبدالله هم، چې كله د ملت زور ولید ، له انګرېزانو یې مـخ واړاوه او غزني تـه وتښتـېدل او پـه هغـه ځای كې د غزني لـه ننګیالیو سره یو ځای شول. د امیر محمد اعظم خان زوی سردار محمد هاشم خان هم له انګرېزانو را جلا شو او له كابل څخه وتښتید او خلكو سره یو ځای شو. وروستـه بیـا دغـه ټول سرداران له سردار محمد ایوب خا سره یو ځای شول، خو د امیر دوست محمد خان زوی سردار ولي محمد خان د ژوند تر پایه

دانګرېزانو بنده پاتې شو.

د ۱۸۷۹ کال د دسمبر د ۱۴مې نېټې له جګړې څخه وروسته اته ورځې هم ولسي پوځ او هم دانګرېزانو پوځ خپل مړي خښ کړل او د یوه بل نظامي برید لپاره یې ځانونه چمتو کړل. د دسمبر په ۲۳ شپه افغاني ننګیالیو د آسمايي په غره باندې یو لوی اور بل کړ، چې رڼا یې له لرې څخه ښکارېده، دا د دښمن په لښکر کوټ باندې د یوه عمومي برید د اعلانولو نښه وه، انګرېزانو د سردار ولي محمد او د هغه د جاسوسانو له خولې ځانونه د مجاهدینو له پلان څخه خبر کړل او ځانونه یې دفاع ته چمتو کړل د ولسي لښکر برید په شېرپور پیل شو، دښمن د توپچي پرله پسې واورونه کول. دغه جګړه د دسمبر له ۲۳مې شپې پیل او د دسمبر تر ۲۴مې پورې یې تر ماښام پورې دوام وکړ، تر څو چې ولسي لښکر د دښمن د توپچي د اور له برید څخه تیرېدل ډېرو تلفاتو سره مخامخ شول، خو له دې سره سره دوی د ګولیو په باران کې، چې د دیوالونو له شا په دوی باندې ورېده او یو لګېدلی په بل باندې پرېوت، د شېرپور تر دیوال لاندې ورسېدل، هلته یې زینې کېښودې او په دیوالونو ور وختل. دا مهال د دښمن مخکې تر مخکې چمتو شوی او سمبال لښکر له پوښل شویو مورچلونو څخه ګولۍ ورولې، د مبارزینو د ټولې زړورتیا سره سره ددې وخت برابر نشو، چې دوی پر دښمن وربر شي، ددې پر ځای ملي ننګیالي یو پر لکه د ونې د پاڼې په شان په ګولیو لګېدل او ښکته رالوېدل. په دې توګه د خلکو تلفات ډېر زیات شول، په تیره بیا په ختیزه جبهه کې دوو ملي خاینانو پادشاه خان سرخابي او محمدشاه سرخابي ځای نیولی و او دوی په یوه ډېر نازك وخت کې خپل وسله وال شاته بوتلل، دغه ناڅاپي په شا تګ د ولسي لښکر د ماتېدو لامل شو او د ولسي لښکر د ډېرته ستنېدو لاره یې هواره کړه. ملي مشرانو بیا هڅه وکړه، چې خپل ځواکونه نوي کړي او د راتلونکو جګړو لپاره یې خپل پوځ په شا بوت. ولسي لښکر د شپې له خوا غرونو ته وخوت. دښمن له دې وخت څخه پوره کار واخیست او د شېرپور شا و خوا یې ټول هغه کورونه له خاورو سره برابر کړل، چې مجاهدینو د مورچلو په توګه ورڅخه کار اخیستلای شو. له دې لامله، چې د دسمبر په ۲۴مه د انګرېزانو یو ډیوژن نوي عسکر د جنرال (سرجان راس) تر قومندانۍ لاندې شېرپور ته راورسېدل، رابرتس بیا را ژوندی او پیاوړی شو. له چونۍ څخه راووت او د کابل په هوارو سیمو او بالاحصار باندې بیا واکمن شو او له پېښور څخه د یوه بل ډیوژن د رارسېدو په تمه هم و او له کندهار څخه یې هم جنرال ستوارت له یوې فرقې مرستندویه عسکر سره راغوښتی و، نو ځکه یې په بیړه په بالاحصار او نورو لوړو نقاطو کې د مورچلونو په جوړولو پیل وکړ. خو د دوی د نظامي فعالیت په پرتله سیاسي ویجاړوونکي فعالیت لا زیاته اغېزه درلوده او پایلې یې لا زیاتې ورته ګټورې وې. د بېلګې په توګه د دسمبر د ۲۳ جګړې له پای ته رسېدو وروسته دوی په کابل او شا و خوا کې یو خاینانه تبلیغ پیل کړ، چې ګوا کې جنرال محمدجانخان غازي د دسمبر په ۲۳مه په قصدي توګه د شېرپور په محاذ کې ولسي پوځ ته ماتې ورکړه او ولسي پوځ یې په لوی لاس شاته تګ ته اړ کړ، دا ځکه چې دغه جنرال ګوا کې انګرېزانو سره جوړجاړی کړی و او یو صندوق سره زر یې ورڅخه اخیستي وو، خو وروسته خلك ښه وپوهېدل، چې د دښمن دغه ناوړه تهمت او غلط تور په حقیقت کې هماغه باچاخان سرخابي و، چې

به پوهه یا ناپوهۍ سره د ولسي لښکر د ماتې لامل شو. په پیل کې د غازي محمدجانخان په ضد دغه تبلیغ ډېر اغېزمن و او په ولسي جبهه کې یې لوی تشویش خلکو ته پیدا کړ او خلکو ددې لپاره، چې بل ملي رهبر دا ډول خیانت ونه کړي پراخه ډنډوره غږوله، خو کله چې دغه صندوق پرانیستل شو نو په هغه کې تقلبي برنجي سره زر وو، نو اخیستونکی، چې هر څوك دی دوکه شوی دی او خپل دین او دنیا یې بایلوده اوپرنګي پرته له مکر او دوکې بل څه نه لري، له بلې خوا انګرېزانو په همدغو ډنډورو او پروپاګندو سره وکولای شول، چې په غزني کې لکه د پروان او کاپیسا په شان د کلنل ولي الله خان په لاس د غازیانو تر منځ درز واچوي او د پښتون، تاجك ازبك او هزاره تر منځ یې د ملي نفاق اور بل کړ. کله چې دغه خبر کابل ته راورسېد مشك عالم په خپله د داخلي نفاق د له منځه وړلو لپاره شخصاً غزني ته روان شو، له دې مخکې دوه نور ملي رهبران هر یو عبدالقادر تاجك او ګل خان اندړ هم د کلنل ولي الله خان ددغه خیانت او ملي تفرقې د له منځه وړلو لپاره کار کړی و او په بېړه یې دغه اور مړ کړ او ډېر ژر پښتون، ازبك او هزاره سره پخلا او یو موټي کړل، جنرال محمدجانخان هم د ځواك د نویو کولو په خاطر او د ولسي پوځ د سمبالولو لپاره وردك او غزني ته ولاړ او د کوه دامن او کوهستان ننګيالي هم شمال ته ستانه شول، تر څو نورو راتلونکو جګړو ته نوی ځواك چمتو کړي، دا ځکه چې د تګاو، نجراو، پنجشیر او غوربند ولسي سرتېرو ته په کابل کې ډېر تلفات رسېدلي وو، د کوه دامن او کاپیسا یو نامتو ولسي مشر میرغلام قادرخان او پیاني و، چې چاریکارو ته راغی او د خلکو په پیوستون یې لاس پورې کړ. دغه سړي په پرانیستې فضا کې خلك راغونډول او په یوه لوړه ونه به یې ډول اوسرني غږول او ځوانان به یې تر بیرغ لاندې رابلل. میرغلام قادرخان به هم خپل سره او سپین زر او هم د مرستې له لارې راټول شوي سره او سپین ویلي کول او بیا به یې کونډه کول او دغه سکې به یې د جهاد په داو طلبانو باندې ویشلې. له دې لامله، چې په هېواد کې کوم پاچا نه وو، چې د هغه په نوم سکه او خطبه جاري شي، نو ځکه میرغلام قادر خان خپلو د سپینو زرو سکه باندې دغه بیت ولیك:

میکنم دیوانه گی تا بر سرم غوغا شود
سکه بر زر میزنم تا صاحبش پیدا شود

یعنې د افغانستان د خلکو او ولسونو دغو رښتیني لارښوونکو او مشرانو، چې خپل ځان او مال د خپلواکۍ لپاره ځار کړی و، ځانونو ته یې هېڅ کوم وزارت او سلطنت نه غوښت.

کله، چې رابرتس په غزني، وردك، لوګر، کوهستان او کوه دامن کې د خلکو له بیا راټولولو او سمبالیدو څخه خبر شو، لار ورڅخه ورکه شوه. دی پوه شو، چې د انګلیس دولت افغانستان نشي نیولای، نو د انګلیسي اردو د ژغورنې په خاطر یې د روغې جوړې لار غوره کړه تر څو ژوندی هندوستان ته ستون شي، رابرتس د ۱۸۰۸ کال په جنوري کې په افغانستان کې یو اعلان خپور کړ او په څرګند ډول یې پکې وویل، چې انګلیسي دولت د افغانستان له خلکو سره جګړه نه غواړي، انګرېزي پوځ به افغانستان پرته له جګړې څخه پرېږدي او هغه څوك، چې ددغه هېواد خلك د خپل پاچا په توګه

Scanned by CamScanner

غوره کوي، انګلیس به هغه په رسمیت وپېژني، د رابرتس دغو اعلانونو په خلکو کې اغېزه وکړه او کله چې پوه شول، چې انګرېزان له افغانستان څخه وځي، نو توري یې پرېښودې او د باچا غوره کولو ته پمه شول، رابرتس له دې وخت څخه ګټه پورته کړه د اوربند په ورځو کې یې لیتن ته سلا ورکړه، چې که چېرې د افغانستان پاچاهي د انګرېزانو یوه تحت الحمایه ته وسپارل شي ښه به وي. لکه د کندهار نوابي، چې سردار شیرعلي خان تحت الحمایه ته سپارل شوې. لیتن دغه خبره ومنله او په لندن کې یې د هند وزیر ته ورسوله او هلته تصویب شوه. په همدې موخه رابرتس سردار ولي محمد. هسې په نامه د حکمران په توګه وپېژانده.

د افغانستان خلکو په خپلو مبارزو سره د استعمار بهرنې ځواك ته ماتې ورکړې وه. یو شمېر لوېو سردارانو د تخت او تاج د ترلاسه کولو لپاره د استعمار چوپړ ته غاړه کېښوده او هغه څه، چې انګرېزانو په جګړه کې ترلاسه نه کړل، په دوی یې ترلاسه کړل. د افغانستان خلك ډېر ژر د پاچا په غوره کولو کې بریالي نه شول، دا ځکه چې ولایتونه یو بل څخه جلا او لرې لرې وو او د ژمي په کلکه پخنۍ کې د یوې لویې جرګې راټولیدل ستونزمن کار و، په تیره بیا په داسې یوه حالت کې کوم مرکزیت هم نه و، په غزني کې د ۱۸۹ تنو په ګډون یوه جرګه جوړه شوه او په هغه کې پرېکړه وشوه، چې پاچاهي به د امیرشیرعلي خان مشر وارث ته ورکول کېږي، چې اوس هند کې بندي دی (امیر محمد یعقوب خان) باید هغه لکه د امیر دوست محمد خان په شان له انګلیسانو څخه وژغورو. صدراعظم مستوفي حبیب الله خان، چې له انګرېزانو سره په کابل کې بندي و هم د رابرتس د یوې پوښتنې په ځواب کې همداسې یو څه ویلي وو، حال دا چې په هرات، فراه او کندهار کې خلکو د امیرشیرعلي خان دوهم زوی سردار محمدایوب خان ته سترګې اړولې، چې هغه دا مهال د هرات حاکم و، خو د کابل، لوګر، کوهستان، کوه دامن او نورو سیمو یو هم نه غوښتل. رابرتس کتل، چې خلك د پاچا ټاکل کېدو او د انګرېز له لښکرو څخه د افغانستان د تشیدو په تمه دي او ځان یې د خلکو له بریدونو څخه خوندي کوت، نو د خپل ځان په پیاوړي کولو بوخت شول، تر څو د افغانستان د پرېښودلو پر مهال ژوندی ګړندی ووځي. نو اوس، چې هغه د جګړو په ترخ کې دوه فرقې مرستندوی عسکر له پېښور او جلال آباد څخه راغوښتل همداسې یې هم ۱۸۸۰ په فروري کې یو بل لښکر له کندهار څخه راوغوښت او په خپله یې د خوراکي توکیو په زېرمه کولو پیل وکړ.

جنرال استوارت د کندهار د لښکر د قوماندانۍ جنرال پرایمروز ته ورکړه او په خپله د مارچ په ۳۰مه له یوې فرقې سره مخ په کابل راغی، چې ۱۲ توپونه هم ورسره وو. کله چې خلك ورباندې خبر شول، ډېر ژر له زمیندارو، کلات او کندهار څخه ډلې مبارزین او ننګیالي ورپسې راووتل او تر غزني پورې یې څو ځله بریدونه ورباندې وکړل او د غزني او مقر تر منځ په احمدخېلو کې ورسره مخامخ په جګړه شول او له خپلو دوو کوچنیو توپونو سره د دښمن د ۱۲ درنو توپونو په وړاندې ورغلل، د خلکو دغه جګړه دومره له زړورتیا ډکه وه، چې د دښمن یو افسر (لفتننت هملتن) د هغې په هکله خپله حیرانتیا او شاباسي په لیکلې بڼه پرېښې دي. البته د دښمن پیاوړی توپچي د دوی اردو په بشپړ ډول له منځه تلو څخه

Scanned by CamScanner

وژغورل. استوارت په همداسې یوه حالت کې د اپريل په ۲۲مه نېټه د غزني شا و خوا پورې راورسېد او له رابرتس څخه يې د سرتېرو او نورو اړتياوو د مرستې غوښتنه وکړه. رابرتس په ډېره بېړه يو لښکر سره له يو څه اړتياوو د ميجر راس په قوماندانۍ د استوارت مرستې ته ور ولېږل. هغه د خلکو د بريدونو د مخنيوي په خاطر له دغه مرستندوى پوځ سره دوه کنډکه نور ملاتړي سرتيري هم ور ولېږل، چې يو يې د (کلنل جنکنز) تر مشرۍ لاندې و، چې په چهار آسياب ورغلل او بل يې د جنرال ميکفرسن په مشري وو، چې جنکنز پسې لا خره ورغلل. د جنکنز کنډك سپور کنډك و خو د ميکفرسن پلي و. چې زر تنه او شپږ توپونه ورسره وو. په دغه دوو قطعاتو پسې يوه، بله رساله هم روانه وه، چې څلور قاطري توپونه يې لرل او دنده يې د جنرال هيوج ګف تر قوماندې لاندې د ارتباطي کرښو ساتل و. په چهارآسيا کې د محمد حسن خان لوګري تر مشرتوب لاندې ولسي مبارزين د جنکنز په سپاره کنډك ورغلل او د اپريل په ۲۵مه يې ډېره برخه له منځه يووړه، خو ميکفرسن له خپل پوځ سره او بيا په ده پسې په خپله جنرال رابرتس راورسېد او د ځواکمن توپچي په ګوزارونو يې ځانونه له ولسي مبارزينو څخه وژغورل. سره له دې، هم د دښمن پوځونه اړ وو، چې بېرته کابل ته راوګرځي او د شېرپور د ديوالونو شاته په تمه واوسي. دا په افغانستان کې د انګرېزي پوځ د اوسېدو حال و او هغه هم د اوربند په حال کې.

په هر حال، استوارت خان په خواريو له غزني څخه د مې په پينځمه د شېرپور چوڼۍ ته راورساو، په داسې حال کې، چې د وردك ولايت د توپ په دښته کې ورته زيان هم واړول شو. په دې حال کې په انګلستان او هندوستان کې سياسي حالت بدلون ومونډ. په افغانستان کې سردار عبدالرحمن خان د ۱۸۸۰ کال د مارچ په مياشت کې په ښکاره د جهاد بيرغ پورته کړ او د بېلا بېلو اعلانونو له لارې يې خلکو ته ويل، چې د دښمن د شر او د هېواد د ژغورنې لپاره له روسيې څخه راغلی يم او اوس غواړم د انګرېزانو د ورکولو په خاطر د مجاهدينو يو لښکر جوړ کړم. د افغانستان خلکو، چې کله داسې يو لارښود وليد، نو د هېواد په بېلا بېلو سيمو کې سره ټول شول او د سردار راتګ ته په تمه شول په هرات کې خلك پاڅېدل او سردار محمد ايوب خان يې په کندهار باندې بريد کولو او د دښمن د پوځيانو شړلو ته وهڅاوه. سردار محمد ايوب خان ډېر ژر سردار عبدالرحمن خان ته يو ليك واستاوه او پکې ويې ليکل، چې مونږ او تاسې بايد له افغانستان څخه د انګرېزانو د شړلو په خاطر يو لاس شو. سردار عبدالرحمن خان ځواب ورکړ، چې له انګرېزانو سره دښمني د افغانستان په ګټه نه ده، اميرشيرعلي خان دغه تېروتنه وکړه او له منځه ولاړ، نو ته هم له انګرېزانو سره د روغې جوړې لاره ونيسه. سردار عبدالرحمن خان دغه ليك کابل ته د راتګ په لاره کې هرات ته واستاوه، چې د انګرېزانو لاس ته ورسېږي او د هغوی پام ده ته واوړي او له بلې خوا سردار محمدايوب خان هم د انګرېزانو په وړاندې پاڅون په برخه کې شکمن کړي او په خپله له هغه څخه مخکې کابل ته راورسېږي او عمومي رهبري ترلاسه کړي، همداسې هم وشول او انګرېزانو عبدالرحمن ډېر ژر په لاس کې ونيو او سردار محمدايوب خان هم تر هغه مهال پورې له هرات څخه ونه وت تر څو چې سردار عبدالرحمن خان له تخار څخه کابل ته راغی. خو صدراعظم مستوفي حبيب الله خان، چې له انګرېزانو سره بندي و، په دې باندې وپوهېد، چې

سردار عبدالرحمن له انګرېزانو سره جوړ جاړی کړی، نو ځکه یې په پټه د بلخ سپه سالار ته، چې لا تر اوسه پورې یې پوره پوځ په واک کې و، ولیکل چې سردار عبدالرحمن خان په پټه له انګرېزانو سره دی او غزني کې یې مشک عالم او جنرال محمد جانخان ته هم همدا لیک واستاوه، چې هلته دوی نوې ځواکونه برابرول. د انګرېزانو جاسوسانو د ۲۰ زره کالدارو په لګښت سره د مستوفي لیک د غزني په لاره کې تر لاسه کړ، نو ځکه یې مستوفي هندوستان ته تبعید کړ، خو د بلخ د سپه سالار په نوم لیکل شوی، لیک بلخ ته ورسېد، نو ځکه سپه سالار غلام حیدرخان د عبدالرحمن خان په ضد پاڅېد. چې په تخار کې د پوځ په سمبالولو بوخت و او دده ترونه (سردار محمدسرور خان او سردار محمداسحق خان، چې د محمداعظم خان زامن وو او د سردار سلطان محمدخان زوی سردار عبدالقدوس خان، چې مخکې له کابل څخه تښتیدلی و او امیر عبدالرحمن خان ته ورغلی و) یې وتښکول او سردار سرور خان ووژل شو، دوه نور یې له بلخ څخه میمنې ته وتښتیدل. سپه سالار غلام حیدر خان وردکی قطغن ته هم یو پوځ واستاوه، چې سردار عبدالرحمن خان له منځه یوسي، خو د عبدالرحمن خان خپرو شویو اعلانونو په خلکو باندې اغېزه کړې وه او خلکو دده په اعلانونو باور کړی و او ځکه یې ورڅخه ملاتړ کړ. د بېلګې په توګه کله چې نوموړی رستاق ته ورغی د بدخشان خلکو د فیض آباد د والي شهزاده حسن په ضد پاڅون وکړ او هغه یې د چترال او کشمیر خوا ته وځغلاوه، ځکه چې هغه د سردار عبدالرحمن خان بلنه رد کړې وه. دا مهال د بدخشان خلك د سردار عبدالرحمن خان په پلوي ودرېدل او دوی عبدالرحمن خان ته د انګرېزانو د شړلو په خاطر په خپل لګښت شپږ زره عسکر او درې لکه روپۍ ورکړې او د بدخشان هر کور یو پسه او یو جوال غنم د عبدالرحمن خان اردو ته ورکړل هغه یې یو ملي اردو وباله. همدا رنګه د رستاق خلکو او د هغه ځای سیمه ییز حاکم سید محمدعمر خان یو درې زره کسیزه پوځ (دوه زره سپور او زر ښه پلي) په خپل لګښت د ملي جهاد تر نوم لاندې سردار عبدالرحمن خان ته ورکړل. د قطغن والي میربابه بیګ مراد خان له خپلو ټولو ځواکونو سره له عبدالرحمن خان سره یو ځای شو. په دې توګه په ډېره بیړه یو ملي پوځ له سردار سره یو ځای شو، چې په کابل کې دښمن ته ویره پیدا شوه. که نه په هغه ورځ، چې سردار عبدالرحمن خان د روسیې د مرکزي آسیا له والي جنرال کافمان څخه افغانستان ته د راستنېدو اجازه واخیسته او د بخارا له لارې د افغانستان رستاق ته راغی، له هغه سره یوائې سل تنه سپاره ساتونکي وو او په خپله سردار، چې د روسیې په خاوره کې صرف د میاشتې ۱۵۰ مناته معاش درلود. تش لاس او بیوزله سړی و. چې دولس کاله یې هلته تیر کړي وو او یو آس او یوه متروکه ورسره وه، ده ته د دومره ځواك په لاس ورتلل او له انګرېزي امپراتورۍ سره مقابله هسې یو خوب او خیال و، خو دادی دا د افغانستان د خلکو زور او سربښندنه وه، چې سردار ته یې دومره پرتم او ځواك ورکړ. کله چې سپه سالار غلام حیدرخان وردك له بلخ څخه قطغن ته ورغی پرته له دې، چې عبدالرحمن خان د یوې ګولۍ وار ورباندې وکړي، د بلخ پوځیانو پاڅون وکړ او سپه سالار ته یې د وژلو ګواښ وکړ. سپه سالار همدومره وکړل، چې بخارا ته وتښتید او ځان یې پټ کړ (وروسته بیا جنرال امیرغلام حیدرخان اورکزي د سپه سالار وردك لور له مزار څخه بخارا ته ور واستوله). د بلخ ټول پوځ د جهاد په نوم

Scanned by CamScanner

عبدالرحمن خان سره یو ځای شو دا د خلکو سربندنه او احساسات و. چې له عبدالرحمن خان سره یو لوی اردو یو ځای شوه او په هغه ورځ، چې هغه مخ په کابل راته. په لاره کې نور داو طلبان هم ورسره یو ځای او ورځ په ورځ دغه ولسي اردو پیاوړې کېدله او کله چې چاریکارو ته راورسېد شمېر یې سل زره تنو ته ورسېد، حال دا، چې د هرات منظم او داو طلب لښکر او د فراه سرتېري هم دا مهال د انګرېزانو د ټکولو په خاطر مخ په کندهار را روان شول.

نو انګرېزان: د لندن محافظه کار ګوند د ۱۸۷۹ کال په وروستیو کې تصمیم ونیو، چې افغانستان په مجموع کې د نړۍ له نقشې څخه ورک کړي، نو ځکه له لوی پوځ سره دغه هېواد ته ننوتل، امیرشیرعلي خان وتښتید او امیر محمدیعقوب خان تسلیم شو. دولت او تشکیلات بېخي له منځه ولاړل په دې توګه دیزرائیلي، سالسبري او لیتن د افغانستان د ټوټه ټوټه کولو په خاطر لاندینی طرح تر عملي کېدو لاندې راوستله:

د سیستان او هرات ولایتونه یې ایران ته په پام کې ونیول. کابل او کندهار یې په جلا جلا توګه سردار علي خان او ولي محمد ته د انګرېز د تحت الحمایه په توګه نظامي مرکزونه کړل او جلال آباد یې هم تر نظامي اشغال لاندې راوست. رابرټس ته دنده وسپارل شوه، چې کاپیسا او پروان تر بامیان او د هندوکش تر جنوب پورې ونیسي. ولي محمد ته دنده ورکړل شوه، چې د هېواد شمالي ولایتونه (بدخشان، تخارستان، بلخ او میمنه) د انګلیس د حکومت تر نوم لاندې خپل واك لاندې راولي. جنرال برائیت باید د غلجیو ټول قوم په نوم سره ورك کړي. دوی د دغې نقشې د عملي کولو لپاره انګرېزي ۵۲ زره عسکر په کار واچول. خو افغانستان توري ته لاس کړ او د ۱۸۷۹ کال په ترځ کې یې انګرېزي لښکرې له کندهار څخه تر ننګرهار پورې او له غزني څخه تر کابل پورې په کرار پرې نه ښودل. د ۱۸۷۹ کال د دسمبر په میاشت کې یې په کابل کې د دښمن په پوځ هماغه اور بل کړ، چې په ۱۸۴۱ کال یعنې ۳۸ کاله مخکې یې د الفنستن او مکناټن پر پوځ بل کړی و او هغه پېښه انګرېزانو (په افغانستان کې دردونه) بللي وو، نو په دې توګه د دیزرائیلي، سالسبري او لیتن دغه خوب په یو ویرونکي بلا واوښت او انګلیسي سیاسي او نظامي ځواکونه په دې لټه کې شول، چې خپل له لاسه وتلی نوم او پرتم بېرته ترلاسه کړي، په همدې موخه په ۱۸۷۹ کال کې وروسته تر ټکول کېدو څخه ډېر ژر د ۱۸۸۰ کال په جنوري کې د انګرېزي دولت نوي نظر د اعلانولو په ترځ کې د افغانستان خلکو ته خپور شو او ویې ویل، چې انګلیسي پوځونه افغانستان پرېږدي او د افغانستان خلك سره د جګړې فکر نه لري، خلك دې ځانته یو پاچا وټاکي. دا اعلان په حقیقت کې د رابرټس د ماتې یو ناسیده اعتراف و. د ۱۸۸۰ کال د اپریل په ۱۳مه چې په شیرپور کې رابرټس کومه ماتې وخوړه دغه اعلانونه خپاره شول، په دغه بهیر کې د بهرنیو چارو کاتب (لیال) سیاسي سکرتر (ریجوي) او د سیاسي څانګې مشر (ګریفن) یو په بل پسې کابل ته را ورسېدل تر څو د انګلیسي اردو آبرو بېرته د (سوله ییزه سیاست) تر نوم لاندې خپله کړي. کله، چې د ۱۸۸۰ کال د مارچ په میاشت کې انګرېزان خبر شول، چې د افغانستان په شمالي ولایتونو کې سردار عبدالرحمن خان د خلکو له خوا د ولسي سرتیرو د مشر په توګه منل شوی دی، ډېر وویریدل،

نو ليتن په کندهار کې د جنرال ستوارت سياسي مامور (اليورسنجان) ته امر وکړ، چې د هېر ژر له سردار عبدالرحمن سره اړيکې ټينګې کړي او دژمي له راتګ څخه مخکې انګليس اردو ته د ژغورنې چاره پيدا کړي. ورپسې د ۱۸۸۰ کال د مې په مياشت کې کله، چې ستوارت او سنجان کابل کې وو، نو خبر شول، چې په لندن کې متعصب محافظه کاران له واك څخه لويدلي او په هند کې هم مغرور ليتن استعفا کړې ده، نو پر ځای يې په لندن کې ګلاوستون او لارد هارتنګتن ته او په هند کې ريپين او په کابل کې د رابرتس پر ځای ستوارت ته چارې ولېږدول شوې. په هند کې نوی وزير هارتنګتن د هند نوی وايسرا ريپين ته واك ورکړ، چې له سردار عبدالرحمن خان سره خبرې وکړي، په کابل کې انګرېزان دومره ويرېدلي وو او وارخطا وو، چې له عبدالرحمن خان سره د خبرو -اترو لپاره يې د هغه خور شابيو جانې ته مخ واړاوه او هغې ته د ننواتي په واسطه يې له سردار سره د ليکنو لړۍ پيل کړه. د ۱۸۸۰ په اپريل کې سردار عبدالرحمن خان ته د ګريفن يو ليك را ورسېد، چې پکې ليکل شوي وو:

"زما درانه دوست سردار عبدالرحمن خان ته وروسته تر رسمي تبليغاتو څخه او ستاسې د روغتيا له هيلو څخه د خبرتيا په توګه تاسې ته زحمت درکوم، چې د انګليس دولت خبر شو، چې تاسې په سلامتي سره قطغن ته رارسېدلي ياست او خوښ شول. زه به خوشحاله شم که چېرې پوه شم، چې تاسې له روسيې څخه په څه ډول راغلي ياست او څه فکر او اراده لرئ؟" ګريفن ستاسې دوست-لاسليك سردار عبدالرحمن خان د ګريفن ددغه ليك په هکله په تاج التواريخ کې ليکلي دي. له دې لامله چې د انګليس له دولت سره زما لومړنۍ خبرې وې، نو ما فکر وکړ، چې ښه به نه وي. چې له خپلو عسکرو سره له مشورې پرته د هغه ځواب ورکړم. زه له فاسدو وګړو څخه ويرېدم، چې ونه وايي، چې هېواد انګرېزانو ته تسليموم او دا به زما د ختمېدو لامل شي. په دې هم پوه شوم، چې داسې يو وخت په لاس راغلی، چې په دې وپوهېږم، چې ملت په بهرنيو اړيکو کې ماته څومره واك راکوي، نو ځکه مې دغه ليك په لوړ غږ خپل پوځ ته واوراوه او ورتهومې ويل، چې زه به خوښ شم که چېرې مشران ددغه ليك د ځواب په ليکلو کې راسره مرسته وکړي، دا ځکه چې زه له خپلو نويو دوستانو سره پرته له سلا او مشورې نه غواړم په يوه کار باندې لاس پورې کړم. له تاسې څخه هيله لرم، چې د ځواب په ليکلو کې راسره يو ځای شئ. دوه ورځې مې وخت وغوښت، په دريمه ورځ تقريباً درې سوه ليکل شوي کاغذونه راغلل، د يو شمېر ليکنو مضمون داسې وو:

"ای د انګليس ملته! بايد زمونږ له هېواد څخه ووځئ، يا به تاسې شړو يا به په دغه لاره کې خپل سر بايلو. بل ليکلي وو: مخکې تر دې، چې له تاسې سره خبرې وکړو بايد تاسې هغه غرامات او تاوان راکړئ، چې افغانستان ته مو رسولی دی. بل ليکلي وو: بايد زمونږ د توپونو او کلاوو د ورانولو له لامله مونږ ته سل کروړه (يو کروړ لس ميليونه کېدې) روپۍ تاوان (غرامت) راکړئ، که نه مونږ به يو انګليس هم ژوندی پرې نږدو، چې پېښور ته ولاړ شي، پخوا مو هم داسې کړي. يوه بل مشر داسې ليکلي وو: ای کوپارو غدارو! تاسې هندوستان په چل او دوکه ونيو او اوس غواړئ افغانستان هم په همدې توګه هندوستان سره وتړئ، تر څو وس ولرو دفاع کوو، وروسته چې وس مو نه و کوم دوست

دولت لکه روس یا بل به راسره مل شي، چې ستاسې په وړاندې وجنګېږو.

دغه لیکنې، چې د افغانستان د خلکو د نظریاتو او احساساتو رښتینې بېلګې دي او د انګرېز په وړاندې د دوی صادق شاهدان دي، پر سردار عبدالرحمن خان یې اغېزه کړې وه، خو ده دوی ټولو ته خپله مسوده هم ور وښودله، چې په هغې کې یې ګریفن ته داسې لیکلي وو: "درانه دوسته د لویې برېتانیا د دولت استازیه وروسته تر دوستانه مراسمو څرګندوو، چې ستاسې لیك را ورسېد او ومو لوست. قطعن ته زما له راتګ څخه مو خوښې کړې راڅخه پوښتنه دې کړې، چې د روس له هېواد څخه ژرنګه راغلی یم او څه کول غواړم. دوسته! زه له نوموړي هېواد څخه د تاشکند د حکمران جنرال کافمان په اجازه دلته راغلم او غواړم په ببرنیو او اړینو چارو کې د خپل ملت جوپړ ته ملا وتړم. له دښمن سره جګړه وکړم او د هېواد ساتنه وکړم او که تاسې د خبرو-اترو هیله لرئ له ښځنیه کارو واورئ، د هوښیارو استازیو په واسطه اړیکې راسره ونیسئ.

د سردار دغه ځواب د ۱۸۸۰ کال د اپریل په ۳۰مه تصویب او کابل ته واستول شو او انګرېزان یې په ویره او اندېښنه کې واچول. دې پسې وروسته سردار د می په میاشت کې په افغانستان کې بېلا بېل نور اعلانونه خپاره کړل او د دښمن په وړاندې یې د جهاد شعارونه ور کړل. په دې توګه د افغانستان خلك په ده ورټول شول او مجاهدین کابل ته دده د ورتګ لپاره په تمه شول، حال دا چې انګرېزانو له شېرپور څخه د اپریل په ۱۳مه نور اعلانونه خپاره کړي وو او پکې ویلي یې وو، چې کله د افغانستان خلك خپل پاچا وټاکي نو انګرېزان به پرته له جګړې څخه افغانستان پرېږدي همدغه پېښې وې. چې پر انګرېزانو یې د ولسونو د برید مخه نیوله او د دښمن پوځ څو څو میاشتې نور هم د ولسونو له برید څخه په امن کې پاتې شو.

د ۱۸۸۰ کال د می په میاشت کې، چې ستوارت کابل ته راورسېد او د لندن د لبرال کابینې هڅې پیل کړې، چې د انګلیس اردو د ژمي له راتګ څخه مخکې وژغوري، نو د کابل انګرېزانو بیړه لرله، چې عبدالرحمن خان ژر کابل ته راشي او د هغه په سیوري کې په بې خطره توګه له کابل څخه ووځي، نو ځکه یې یو بل لیك سردار ته واستاوه په هغه کې یې ولیکل، چې دوی په کابل کې ورته په تمه دي او غواړي ورسره خبرې وکړي. سردار عبدالرحمن خان د جون په میاشت کې د سفر ترتیبات ونیول، د جولاي په میاشت کې یې له یوه لوی داوطلب اردو سره د هندوکش د غرونو په لوري حرکت وکړ، حال دا چې ګریفن د جون په ۱۴مه د انګلیس د دولت نظر ورته لیکلی و او بیا یې د جولایي په په دوهمه بل لیك ورته استولی و. کله، چې سردار عبدالرحمن خان د انګرېزانو دومره هڅه او بیړه وکتله د جولایي په لسمه یې ځواب ورکړ، چې په خپله کابل ته ورسېږي. همدا مهال د هرات داو طلبو او منظمو مجاهدینو د دښمن د له منځه وړلو لپاره مخ په کندهار حرکت کړی و او انګرېزان یې په ویره کې اچولي وو.

## د میوند جګړه (د ۱۸۸۰ جولايي)

د هرات خلك د ۱۸۷۹ کال په دسمبر کې په کابل باندې د انګرېزانو له سوقياتو او په هند کې د امير محمد يعقوب خان له تبعيد کېدو څخه خبر شول او د هرات له پوځيانو سره يو ځای د بنګلاګروپ ضد پاڅېدل. د هرات پوځ د دغه غورځنګ لارښودنه په غاړه واخيسته او د کندهار په لوري سوقياتو کې د نيواکګر دښمن د شړلو شعار ورکول شو. خو سردار محمد ايوب خان د کابل پېښو ته سترګې په لاره و، بيړه يې ونه کړه او لږ ځنډ يې وکړ. د هرات پوځيان دوه مياشتې ايسار شول، خو تېنګارېې کاوه. د ۱۸۸۰ کال په مارچ کې تخارستان ته د سردار عبدالرحمن خان د راتګ او د انګرېزانو په وړاندې د هغه د جهاد د اعلان خبر هرات ته راورسېد، د هرات پوځ خپل فعاليت له سره پيل کړ. سردار محمد ايوب خان په ليکلې توګه سردار عبدالرحمن سياسي او نظامي يووالی ته راوباله تر څو دښمن له دوو اړخونو په ګډه وځپي. دوه مياشتې نور وخت تير شو، چې د عبدالرحمن خان د رد ځواب راغی. د هرات خلك او پوځيان د عبدالرحمن خان له دغه شك څخه په غوسه شول. سردا شيرعلي خان په کندهار کې له انګليس سره د سردار عبدالرحمن خان د يو ځای کېدو په هکله شکمن و، هغه ځان د دريو ځواکونو (هم کورني هم بهرني) په وړاندې ناتوان ليده. نو کښېناست چې وګوري، چې سردار عبدالرحمن خان انګرېزانو سر څه کوي او پوځونو د خپل سره سوقياتو، مخنيوي لپاره يې جنرال فقير احمد خان ته دنده وسپارله، چې د نن- سبا په وعدو سره د هرات پوځ غلی کړي. د هرات پوځ چې کتل. چې جنرال دښمن سره له جهاد کولو مخ اړوي، پاځون يې وکړ او جنرال يې وواژه او په خپله يې د جهاد او مبارزې بيرغ اوچت کړ. نايب سالار حفيظ الله خان، چې دا حال وليد، د پوځ لارښوونه يې ترلاسه کړه او جهاد يې اعلان کړ. سردار محمدايوب خان د قومندان جنرال فيض محمد خان په نامه يو منشور او حکم واستاوه، چې هغه د کندهار په خوا روان شي. وروسته يې د ۱۸۸۰ په جون کې د جهاد بيرغ اوچت کړ او له خپلو منظمو دولس زرو سپرو اوپليو ځواکونو او ۳۲ توپونو سره له ښاره ووت. په داسې حال کې، چې زرګونو خلکو هغه بدرګه کاوه. د هرات اردو له ښار څخه د يوه پړاو په واټن لرې شوی و، چې هرات ته د ميمنې له پوځ سره د جنرال فيض محمد خان له ننوتلو څخه خبر شو. د هرات سپاهيانو فکر وکړ، چې جنرال فيض محمد خان هم غواړي، چې لکه د جنرال فقير احمد خان غوندې په کندهار باندې د بريد او د انګرېزانو د شړلو په لاره کې خنډ شي، له لارې ستانه شول او ښار کې يې جنرال د هغه له پوځ سره وتړکاوه او په خپله بېرته د سردار محمدايوب خان لښکر کوټ ته ورغلل.

جنرال فيض محمد خان لکه د بلخ سپه سالار جنرال غلام حيدر خان غوندې د جګړې له ډګر څخه ورك او د تل لپاره څوك ورڅخه خبر نه شول.

سردار محمدايوب خان د هرات له پوځونو سره د فراه او ګرشك له لارې مخ په کندهار ورغی او د لارې په اوږدو کې خلکو ورسره د داو طلبو پليو او سپرو سرتېرو او خوراکي توکيو مرسته وکړه. دغه پوځ د جولايي په شلمه د ميوند ډګر ته نږدې شو او په يوه وچه او بې اوبو دښته کې د اړتيا له مخې تم شول، دا ځکه چې جنرال (برروز) خپل انګرېزاي ۱۲ زريز پوځ او د سردار شيرعلي خان له دريو کنډکونو سره لا د

مخه د سیند تر غاړې په ښه وضع الجیشي کې ځای نیولی و او خپل خواکمن توپچي یې هم ورسره ځای کړی و، خو کله چې د شیر علي کنډکونو ولسي لښکر ولید . د انګلیس اردو یې پرېښوده او د ایوب خان خواکونو سره یو ځای شول. د سیمې شپږو زرو داو طلبو خلکو او د هرات سپاهیان د اوبو د مندلو لپاره په سیمه کې د یوه نږدېلي کاریز په پاکولو کار پیل کړ. اوبه پیدا او روانې شوې او سپاهیان او آسونه یې هوسا شول. دښمن د جګړې د پیل کولو زړه نه کاوه. شپږ ورځې دواړو لښکرونو یو بل ته له لرې څخه کتل، په دغه موده کې د افشاري افسر غلام حیدرخان او کوهستاني افسر عبدالکریم خان ځواکونو د خرپ او ترپ په ګوزارونو دښمن ټکاوه. په اوومه ورځ ولسي سپاهیانو په عمومي برید پیل وکړ، خو د دښمن توپچي بیدریغه واُرونه پیل کړل او ولسي لښکر په هوار ډګر لکه د ونو د پاڼو په شان رژید . د سهار له لمر ځرك څخه تر غرمې پورې پېنځه سوه تنه ووژل شول او ۸۵۰ تنه ټپیان شول او یو شمېر زړور افسران لکه هراتي غونډمشر عبدالغفورخان، کندهاری کمیدان محمدحیدرخان، محمدزمان بارکزی او د قادرخان زوی او داسې نور افسران هم ووژل شول. نایب سالار حفیظ الله خان، چې کله حال ولید په بیړه یې د «پروت» امر وکړ او ټول پر ځمکه پرېوتل، دا مهال څلور زره هراتي منظم او غیر منظم سپاره، چې د سردار محمد ایوب خان چاپېر ولاړ وو، په درې کتارونو کې د ښتې دریو لوریو ته په ځغاسته شول او له سترګو پناه شول، کله چې انګرېزانو د آسونو دا دوړې او لرې کېدل ولیدل، فکر یې وکړ، چې ولسي پوځ مات شو. له ځایه پاځېدل او خپل برید ته یې نور هم زور ورکړ. افغانانو مقاومت وکړ په دې وخت کې د افغانانو استول شویو سپرو ځواکونو په یوه لویه دایره کې د یوه ساعت په ترځ کې ځان د دښمن د جبهې د شا لوري ته ورساوه. په دې توګه د افغانانو بریدونه په دوو برخو کې هم د مخ او هم د شا له لوري پر دښمن باندې پیل شول. جګړه سخته شوه. د دښمن ځواکونو کتل، چې لاره تړل شوې او ژغورل ناشوني دي. ځانونه یې مرګ ته وسپارل او تر وروستۍ سلګۍ یې دفاع ته ملا وتړله. دغه جګړه تر مازیګر پورې اوږده شوه او خبره لاس او ګریوان جګړې ته ورسېده. انګرېزانو د افغاني درنو او نامتو تورو او کرچونو په وړاندې مقاومت نشو کولای او لړ شیبه کې یې ډېر سرونه پرې شول. په دې کې شپږ سوو تنو وکولای شول، چې ځانونه په دوړو کې پټ د جګړې د ډګر څخه لرې یوه بڼ ته ورسوي او د هغه د دیوالونو شاته یې مورچلونه جوړ کړل. خو ولسي سرتېرونه پرېښودل او ورپسې ورغلل او د تلفاتو په منلو سره یې تورې په لاس کې او وربانديې ورغلل او وروستی تن یې هم ور وواژه.

سردار شیرعلي یواځې له ۲۵ تنو انګرېزانو سره، چې افغاني جامې یې اغوستې وې او د مسلمانانو په شان ښکارېدل کندهار ته ورسېد او جنرال پرایمرز ته یې د خپل پوځ د ماتې خبر ور وړ. دغې نامتو جګړې کې، چې د انګرېزانو ملا یې په هند کې ماته کړه، افغاني ښځو هم برخه لرله او د پېغلې ملالۍ داستان. چې د میوند په جګړه کې یې د ولسي سرتېرو د وژل شوي بیرغ لرونکي په ځای یې د افغاني سرتیرو بیرغ په اوږه اوچت کړی و، له همدې ځایه پیل شوی دی، د هغې له خولې څخه دوو لنډیو د افغانستان د جګړې په ډګر انګازې وکړې:

Scanned by CamScanner

خـال بـه د یـار لـه وینـو کـېږدم
چې شینکي باغ کې ګلا ګلاب وشرموینه
که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

ددغې جګړې هم مهالی تاریخ لیکوال (مرزا یعقوب علي خوافي) د سردار کهندل خان د لمسي سردار احمدعلي خان له خولې څخه، چې په خپله یې د میوند په جګړه کې ګډون کړی و، لیکي چې: په دغه جګړه کې د انګرېزانو له ۱۲ زره سرتېرو او افسرانو څخه ۲۵ تنه ژوندي پاتې شول او وتښتېدل نور ووژل شول. دغه ستره سوبه په داسې ورځ کې ترلاسه شوه، چې له هغې څخه یوه ورځ مخکې سردار عبدالرحمن خان په چاریکارو کې د خلکو او سل زره پوځ له لوري د افغانستان د پاچا په توګه غوره شو او انګرېزان په افغانستان او هندوستان کې په وېره کې لوېدلي وو. تر څو، چې سردار محمدایوب خان د جګړې په ډګر کې د افغاني او انګلیسي مړو له خښولو څخه وزګار کېده او کندهار ته رسېد، لس ورځې تیرې وې. په دغه موده کې جنرال پرایمرز د کندهار انګلیسي عسکرو قوماندان پوره خوراکي توکي راټول کړي وو او ښار کې یې د یوې اوږدې مودې دفاع لپاره ځان چمتو کړی و. سردار راورسېد او د کلابندۍ جګړه پیل شوه، سره له دې چې ولسي سرتېري د دښمن د ګوزارونو له لامله تلفاتو سره مخامخ شول او په دې ډله کې یو هم د توپچي قوماندان فرخ او بل شاغاسي محمد یوسف خان و، خو بیاهم افغاني ننګیالیو پر دښمن باندې پوره زور راوړ او د ښار نیول یې نږدې کړي وو، خو همدا چې د انګلیس حکومت د جولایي په ۲۹مه د میوند د ماتې خبر له سملې څخه کابل ته تلګراف کړ، جنرال ستوارت لاس له پښنو فطا کړ. جنرال رابرټس ته یې امر وکړ، چې له یوه لښکر سره له کابل څخه کندهار ته ورمنډه کړي او په کندهار کې یو انګلیسي فرقه له تباه کېدو څخه وژغوري. البته دغه سوقیات آسانه هم نه و، نو ځکه یې ځان امیر عبدالرحمن خان ته ورنږدې کړ او د هغه تر سیوري لاندې یې ځانته تر کندهار، کوټې، جلال آباد او پېښور پورې لارې پرانیستې. په دې ډګر کې یې له امیر عبدالرحمن سره د لیک لېږلو، خبرو او موافقې له لارې ډېرې ښېرې څخه کار واخیست، خو ارمان، چې امیرعبدالرحمن د دښمن له دغه ډېر بد حالت، ضعف او ماتې څخه ښه ګټه پورته نه کړه.

د کابل انګرېزانو په کندهار کې خپلې قوماندانۍ ته خبر ورکړ، چې که تر یوې میاشتې پورې د هرات د پوځ په وړاندې ځان ټینګ کړي، نو د دوی د ژغورنې لپاره به له کابل څخه ځواکونه ور ورسېږي. د کندهار د انګلیسي ځواکونو قوماندان، چې ځان د هرات د پوځونو په وړاندې د دفاع جوګه نه لید، نو یوه سیاسي چل او دوکې څخه یې کار واخیست او بری یې ترلاسه کړ. د میرزا یعقوب خان علي خافي په وینا د دوی دوکه داسې وه، چې مخکې جنرال پرایمرز یعنې د کندهار انګرېزي قوماندان د سردار شیرعلي انا (د سردار مهردل خان مور) ته مور ویلي وو، نو اوس یې هغه بوډۍ د یوې وسیلې په توګه وکاروله. (مادر خوانده) له ښار څخه دو ته او د هرات پوځ ته ورغله او سردار محمد ایوب خان ته یې شفاعت وکړ چې تر ځلوښتو ورځو انګرېزانو ته وخت ورکړي، چې د خپل سفر تیاري ونیسي او ځان

وتلو ته تیار کړي او بیا به نو پرته له جګړې څخه سردار ته تسلیم او په خپله به هندوستان ته ځي. د هرات د پوځ افسرانو نه منله، خو سردار محمد ایوب خان د خپلې خپلوانۍ دغه شفات نشو رد کولای، ځکه يې ورسره ژمنه وکړه، دا ځکه چې د اګست په اتمه نېټه د انګرېزانو لښکر له کابل څخه مخ په کندهار روان شوی و، خو سردار محمد ایوب خان له دې پېښې څخه هېڅ خبر نه و. رابرتس به، چې پخوا ګام په ګام له جګړو سره مخامخ کېده، دا ځل په ډېره آرامۍ سره په بیړه پر مخ روان و، دا ځکه چې له ده مراد امیرعبدالرحمن خان فرمان و او د سردار شمس الدین خان زوی سردار محمدعزیز خان ورسره بدرګه روان و. دغه سردار ته دنده سپارل شوې وه، چې په لاره کې خلك د امیرعبدالرحمن له پاچا کېدو او د انګرېزانو له وتلو څخه خبر کړي او د انګرېزانو پوځیان د خلکو له برید څخه وساتي او دوی ته د وتلو تر وخت پورې خوراکي توکي هم ورکړي. په دې توګه رابرتس کندهار ته ورسېد او د شپې له خوا بار ته ننوت او سبا د اګست په ۲۸مه يې د سردار محمد ایوب خان پر ولسي لښکر برید وکړ. دغه ناڅاپي برید سردار له ماتې سره مخامخ او هغه يې اړ کړ، چې هرات ته ستون شي. دا ځکه چې رابرتس ویلي وو، چې د افغانستان پاچا امیر عبدالرحمن خان دی او د انګلیس پوځ کندهار یواځې د هغه له خوا ټاکل شویو کسانو ته سپاري. د هرات د پوځ دغو ګوزارونو انګرېزان دې ته اړ کړل، چې د کندهار په تجزیه او جلا کولو کې ناکام شي او هغه د افغانستان له مرکزي دولت سره پاتې شي، نو سردار شیرعلي تولې هغه هلې ځلې، چې د انګرېزانو د چوپړ لپاره کړې وې بې پایلې شوې او خپله ناکام او بدنام شو او هند ته يې پناه یووړه او همالته مړ شو. انګرېزانو کندهار د سردار امیر محمد زوی سردار شمس الدین خان ته، چې د امیر عبدالرحمن خان استازی و، وسپاره او خپله ورڅخه ووتل.

## انګرېزان او امیر عبدالرحمن خان

د انګلیس دولت له افغانستان سره په دوهمه جګړه کې ډاډه شو، چې په زور سره ددې هېواد نیول او ساتل نشي کېدای، نو ځکه يې د نظامي ماشین پر ځای د ډیپلوماسي دستګاه په افغانستان کې چالانه کړه. دا ځکه چې په نظامي جګړه کې له بریتانیا سره د افغانستان ملت مخامخ و او بریتانیا په دغه ملت غلبه نشوه کولای، حال دا، چې په سیاسي جګړه کې بریتانیا سره یو وګړی یعنې پاچا مخامخ و او په هغه باندې غلبه او بری آسانه و، لکه هماغسې چې د افغان- انګلیس په دوهمه جګړه کې د یوه کال او اووه میاشتو په ترځ کې انګرېزي لښکر له خوست څخه تر خیبر، غزني، ګرشك، کندهار، کلات، کابل او میوند پورې په ټولو جنګونو کې له ماتې سره مخامخ و او په کابل کې خو ېېخي د کلابندي په حال کې له ورکېدو سره مخامخ و، په دغه ټوله موده کې انګرېزانو همدا هڅه کوله، چې د ژمي له رارسېدو څخه مخکې خپل پوځ ژوندی له افغانستان څخه هندوستان ته وباسي. خو په داسې یوه حالت کې امیر عبدالرحمن خان له سل زره وسله والو او مبارزینو سره مات شوي انګرېز ته راورسېد او په ټول افغانستان کې دغې او کسات غږ اوچت و، خو بیاهم د بریتانیا د یپلوماسي وکولای شول، چې له خپلې ماتې څخه هم د بري په شان استفاده وکړي، لکه هماغسې يې چې د افغان انګلیس په لومړۍ جګړه کې دغه کار کړی و.

Scanned by CamScanner

په دې توګه انګرېزانو له عبدالرحمن خان سره د لیکونو لار پرانیسته او د هغه په وړاندې یې د برېږو سوبمن څېره غوره کړه او امیر یې تر درنو شرایطو او پرله پسې لیکونو لاندې ونیو. ګواکې دا چې انګرېز په افغانستان کې سوبمن او د ټول واك لرونکی دی کله چې امیر عبدالرحمن خان په کندوز کې و، انګرېزانو ورڅخه وپوښتل. چې ته څرنګه خپل وطن ته راغلی یې او څه غواړې؟ او چې امیر چاریکار ته راورسېد او د خلکو له خوا د هېواد د پاچا په توګه غوره شو. انګرېزانو ورته ولیکل. چې مونږ تا په کابل کې د پاچا په توګه اعلانوو. تاسې خپل استازي راولېږئ امیرعبدالرحمن خان ددې پر ځای، چې خپل شرایط وړاندې ومني. له هغوی څخه وپوښتل، چې افغانستان څخه څه غواړئ؟ انګرېزانو ډېر ژر خپلې غوښتنې درته وویلې هغه دا وې: د ګندمك د معاهدې نچوړ او تړون پایلې. چې د افغانستان خلکو لا پخوا هغه په وینو او وسپنو مینځلی وې.

۱- انګرېزانو امیر عبدالرحمن خان ته وویل. چې د افغانستان پاچا پرته د انګلیس له دولت څخه بل هیڅ بهرني دولت سره سیاسي اړیکې نشي ساتلای (دغه توك د افغانستان سیاسي خپلواکي د خلکو له ټولې سربښندنې سره سره له منځه یووړه)

۲- ټول کندهار به د یوه بل واکمن تر واك لاندې وي (یعنې جنوبي ولایتونه به له افغانستان څخه جلا کېږي)

۳- د پښین او سیبي سیمې به د انګلیس د حکومت تر واك لاندې پاتې وي.

۴- هغه پرېکړه، چې له امیر محمد یعقوب خان سره د افغانستان د ختیزو پولو په هکله شوې، هغه به هماغسې اعتبار لري (یعنې د افغانستان ټولې مهمې او حیاتي لارې لکه بولان، کُرمه، پیوار او خیبر د دښمن لاس ته ولویدلې) ددغو شرایطو او غوښتنو په بدل کې به انګلیس د امیر عبدالرحمن خان پاچاهي د هرات په ګډون د هېواد په نورو ولایتونو کې به رسمیت وپېژني او کابل ته به پرته له یوه مسلمان استازي څخه د انګرېز نژاده استازي رالېږلو ډډه وکړي او که کوم بهرنی هېواد په افغانستان کې مداخله کوي، نو انګرېزان به د هغه د مخنیوي لپاره له افغانستان سره مرسته کوي.

دا یواځې نه، بلکې انګرېزانو له امیرعبدالرحمن څخه دا غوښتنه هم کوله، چې انګرېزي پوځیان دې له کابل، کندهار او جلال آباد څخه روغ رمټ د انګرېزانو تر پولو پورې ورسول شي. یعنې د افغانستان مېړني خلك دې پر دښمن باندې له برید څخه منع شي. او تر پولو پورې تر رسېدلو پورې ورته آذوقه او بوس هم ورکړي. امیر عبدالرحمن خان په هغه ځواکمن پوځ سره، چې ورسره و، کولای شول، چې خپل اوچت شرایط پر دښمن ومني، خو هغه د تاج او تخت لپاره دغه ټول شرایط ومنل او د ملت د بریا پایله یې ټوله په اوبو لاهو کړه. که چېرې کندهار له افغانستان څخه جلا نه شو علت یې په میوند کې د ولسي لښکرو بریالیتوب و.

په هر حال امیر عبدالرحمن خان د انګرېزانو د لیکل شوې غوښتنې له مخې، خپل تره سردار محمد یوسف خان له جنرال کتال خان، قاضي عبدالرحمن خان، سید امیرالدین خان او نایب احمد امین خان بیات له چاریکار څخه شیرپور ته ولېږل، تر څو هلته د انګلیسانو په نظامي غونډه کې چې د ۱۸۸۰ د جولایي په ۲۲مه جوړېږي ګډون وکړي. سردار د مجلس په برسر کې کېناست، سردار ولي محمد خان

ناست و، دغې غونډه کې نظامي افسران او د انګليس سياسي استازي وو. جنرال لاتي يوه کونج کې ستوارت او جنرال رابرتس دواړو په انګليس ژبه خبرې وکړې، چې ګريفن هغه په پښتو او پارسي باندې واړولې. په دغو خبرو کې د امير عبدالرحمن د سلطنت مبارکي وويل شوه او د بريتانيا او افغانستان د دوا غښتې دوستي خبرې يې وکړې، سردار محمد يوسف خان په لنډ ډول وويل، چې د افغانستان ملت لا مخکې امير عبدالرحمن خان د خپل پاچا په توګه منتخب کړی دی، د بل چا د منت اړتيا نشته، خو بيا هم دا چې د انګليس دولت هغه په رسميت وپېژاند مننه ورڅخه کوو.

له دغې غونډې څخه وروسته انګرېزانو هندوستان ته خپل بېرته تګ اعلان کړ او اميرعبدالرحمن له چاريکارو څخه په کابل را روان شو. دا مهال ټول ملي داو طلب پوځ او ولسي مشران ورسره وو، د جولايي په ۳۰مه اميرعبدالرحمن خان د کابل شپاړس ميلي کې د (اغه سرای) سيمې ته رارسېدلی و. چې ګريفن له يو شمېر انګرېزانو سره هر کلي ته ورته ولاړ وو. ګريفن له يوه ساتونکي پوځ سره يو ځای و او له امير سره د خبرو لپاره دغه ځای ته راغلی و. امير عبدالرحمن خان جنرال غلام حيدرخان ته دنده ورکړه، چې د ګريفن پوځ د مجاهدينو د سل زريز پوځ له بريدونو څخه وساتي او په خپله د په (ذمه) په سيمه کې ګريفن سره خبرو ته کښېناست. د زمې دغه کتنه درې ورځې اوږده شوه (د جولايي له ۳۰مې څخه د اګست تر لومړۍ پورې) د همدغو خبرو-اترو په ترځ کې امير عبدالرحمن خان د انګرېزانو د پخوا ذکر شويو شرطونو په منلو کې بيړه وکړه، حال دا چې يوه ورځ مخکې انګرېزانو سملي څخه خبر ترلاسه کړ، چې انګرېزان د ميوند په جګړه کې تباه شوي دي او د کندهار پوځونه کلابندۍ کې دي. انګرېزان د کندهار د پوځ د پرځېدلو او د امير له دومره لوی اردو څخه په ويره شول. که چېرې امير عبدالرحمن خان په دغه وخت کې سياسي مقاومت له لاسه نه وای ورکړی، نو کولای يې شول، چې افغانستان اقلاً د امير شيرعلي خان دورې ته ور وګرځوي، په هغه صورت کې نه د هېواد سياسي خپلواکي له لاسه وتله او نه هم د هغه درې حياتي لارې د دښمن لاس ته لوېدلې، خو امير عبدالرحمن خان ځانته يوه بله ځانګړې نقشه درلوده او هغه غوښتل، چې هر رنګه چې کېږي دی بايد يو ځل خپل شخصي حکومت پر افغانستان ټينګ کړي، په تېره بيا ده د ميوند له فاتح او خپل ځواکمن سيال سردار محمد ايوب خان څخه وېره درلوده، نو ځکه يې د انګرېزانو په وړاندې ډېر نرم چلند غوره کړ او دا ډول چلند د افغانستان د ملي ګټو په زيان تمام شو او انګرېزانو د افغانستان خپلواکي تر پښو لاندې کړه او خپل مات شوي او کلابند شوي پوځ يې روغ رمټ له افغانستان څخه وايست او وژغورل شول.

کله، چې ګريفن د اټکل برخلاف د امير دومره نرم چلند او جوړجاړی وليد، دومره زړور شو، چې په غونډه کې يې وويل چې بايد امير په کابل کې له جنرال ستوارت سره د خدای پامانۍ په خاطر هغه ته ورشي. ددې خبرې په اورېدو سره د مجاهدينو اردو قسم ياد کړ، چې امير عبدالرحمن خان بايد د انګرېزانو دا خبره ونه مني او که يې ومنله نور به له هغه سره يو ځای نه وي، نو ځکه امير عبدالرحمن خان د ګريفن دغه غوښتنه رد کړه او په خپله مخ په کابل روان شو. په لاره کې په زرګونو خلکو پاچا ته، چې د انګرېزانو په وړاندې يې جهاد اعلان کړی و هر کلی ووايه او په خوښۍ سره يې بدرګه کړ امير د

Scanned by CamScanner

یوې لنډې دمې لپاره د کابل په شهر آرا بڼ کې، چې مخکې د همدې لپاره سینګار او چمتو شوی و تم شو، دده حضور ته ددغو پېنځلسو دقیقو دربدو په ترڅ کې جنرال ستوارټ، ګریفن او نور انګرېزان په رسمي توګه وړاندې شول. انګرېزانو افغانستان ته د ۳۰ توپونو او یو میلیون او نهه سوه زره روپیو ورکول هم ومنل. د انګرېزانو د همدغې تسلیمۍ او له کابل څخه د وتلو په ویاړ امیرعبدالرحمن خان یو څلور پوړیز کلك او ښکلی څلی جوړ کړ. خو دغه تاریخي ودانۍ د سقیو اړ-دوړ پر مهال ونړېده او ترنن ورځې پورې د یوې عبرت څخه ډکې کنډوالې په توګه پاتې ده.

خو هندوستان ته، چې د انګرېزانو روغ-رمټ ستنېدل د امیرعبدالرحمن له خوا تضمین شوي وو، په بیړه یې د سفر بارونه وتړل. جنرال فریدزیك رابرټس له خپلو دوو فرقو عسکرو سره ۱۸۸۰م. کال د اګست په اتمه نېټه د کندهار په لاره روان شو. په داسې حال کې، چې د سردار شمس الدین خان زوی سردار محمد عزیز خان ته له یو شمېر افغاني سپرو پوځیانو او افسرانو سره یو ځای د امیر عبدالرحمن خان له خوا دنده سپارل شوې وه، چې دوی ته هم آذوقه ورسوي او هم یې ساتنه وکړي. دوه ورځې وروسته (د اګست په لسمه) جنرال دانلدستو ستوارټ او ګریفن د انګرېزانو له پاتې نورو عسکرو سره یو ځای له کابل څخه د جلال آباد په لوري روان شول. سردار محمد یوسف خان ته دنده سپارل شوې وه، چې تر پولو پورې د ستوارټ د پوځ ساتنه وکړي او آذوقه ورته برابره کړي. همدا رنګه امیرعبدالرحمن خان د دوی د لارو په اوږدو کې ټولو خلکو ته فرمانونه واستول، چې هندوستان ته د انګرېزي لښکرو د بېرته ستنېدو لارې پرانیستې پرېږدي. په دې توګه د افغان- انګلیس دوهم جنګ وروسته تر یوه کال او نهو میاشتو څخه په دې توګه پای ته ورسېد. د انګلیس دولت، چې د افغانستان د ټوټه ټوټه کولو او دایمي نیولو لپاره په اتو فرقو عسکرو (هره فرقه یې اته نیم زره تنه وو) راغلي وو، د خپلو نیمايي عسکرو له وژل کېدو وروسته او د میلیونهاوو پونډو په لګولو سره د افغانستان د خلکو له خوا په ماتې خوړلې بنه ووتل. دغې دوهمې تجربې انګرېزان په دې عقیده کړل، چې د انګلیس دولت د افغانستان له نظامي او دایمي نیولو څخه عاجز دی، نو ځکه له دې وروسته تر هغو پورې، چې په هندوستان کې پاتې و، نور یې د افغانستان نوم هم وانخیست. آن دا چې څلوېښت کاله وروسته یې د افغان-انګلیس په دریېم جنګ کې سره له دې، چې په لومړي پړاو کې د افغانستان په پوله (ډکه او نوې کلا) کې یعنې ننګرهار او کندهار په سرحدونو کې افغاني پوځ شا تګ ته اړ کړ، خو له هغه څخه یو ګام هم وړاندې رانغلل، سره له دې چې د کابل او کندهار لار هم ورته پرانیستې پاتې وه، خو د را وړاندې کېدو جرئت یې ونه کړ، دبېلګې په توګه انګلیس سیاستوال سروالنتین په یوه ځای کې په دې برخه کې لیکلي دي، چې:

"... مونږ انګرېزانو د درنومالي او ځاني زیانونو په لیدلو سره نه یو ځل، بلکې څو څو ځلې په افغانستان کې مهم درسونه زده کړل. مونږ د افغانستان د خلکو د مقاومت له ځواك څخه خبر شولو، دغه زړور ملت د خپل پلرني هېواد سختو پیچو موادو ویرونکو دښتو کې دا وښودله، چې په ډېره زړورتیا او سربښندنه جګړه کوي او خپل پلرني هېواد ساتي افغانانو، چې په ۱۸۴۲ او ۱۸۸۰ کلونو کې مونږ سره جګړې وکړې، کومه نظامي روزنه او د حساب وړ وسله یې نه درلوده، خو له دې سره سره یې په مېړانه مقاومت

وکړ او د دوی موخه په دغو جګړو کې همدا وه. چې هېواد ته يې د کوپا او ورتګ مخه ونيسي او رښتيا، چې په مېړانه يې مخه ونيوله. نن ورځ د افغانستان طبيعي مورچلونه هغو مره ويروونکي او کلک دي لکه تل، چې وو نن ورځ يو روزل شوی پوځ لا زيات په دغو کلکو مورچلونو کې په ډاډ سره صفونه جوړولای شي او نوې وسله او د نن ورځې له جنګونو سره يې بلدتيا ددې لامل شوې، چې څوک هغه ونشي نيولای(۱).

البته افغانستان ته هم له انګرېزانو سره د لومړۍ او دوهمې جګړې په ترڅ کې ډېر زيات زيانونه ورسېدل. په ختيځ کې يې ډېرې قيمتي ځمکې او مهمې نظامي او سمندري سوداګرۍ لارې او جنوب کې يې سمندر ته لار له لاسه ورکړه او سياسي خپلواکي يې له ګواښ سره مخامخ شوه. کرني صنعت سوداګري او پيشه وري ته ډېر زيات زيان واوښت او د دغو درې درواز و سياست افغانستان اتيا کاله له نويو تحولاتو څخه شاته وغورځاوه، چې دا په خپله له ننۍ پر مخ تللې نړۍ څخه د افغانستان د وروسته والي يو عامل دی. يعنې د افغان او انګليس د دوهم جنګ په پای ته رسېدلو سره د انګرېزانو نظامي مبارزه له منځه ولاړه، خو سياسي مبارزه يې له منځه نه و لاړه، حال دا چې سياسي مبارزه يې لا زياته خطر او افغانستان ته څو څو ځله مضره او زيان رسوونکې ثابته شوه.

۱- له (تاریخ روابط ایران و انگلیس) څخه. د محمود- محمود تالیف، اوم ټوك، ۱۹۴۰ مخ.

# اتم

# د فیوډالي سلطنت تمرکز او د آزادي غوښتونکي غورځنګ پیل د امیر عبدالرحمن خان د سلطنت پر مهال (۱۸۸۰-۱۹۰۱)

امیر عبدالرحمن خان یو داسې مهال کې د پاچاهي په تخت کښیناست، چې په هېواد باندې د انګرېزانو د دوو تیریو له امله ډېر زیات زیان اوښتی و. په دې معنا، چې د هېواد اداري منظمه دستګاه نړېدلې وه او نظامي تشکیلات له منځه تللي وو، پلازمېنه او د هېواد مرکز (د کابل د بالاحصار ښار) نړول شوی او صنعتګران او کاروباریان زیاتره د هېواد د ساتنې په جګړو کې وژل شوي وو. د استالف صنعتي ښارګوټی او د غزنې بازارونه سوځول شوي وو. د کندهار او جلال آباد ښارونه له پیشه ورانو او کاروباریانو څخه تش شوي وو یوازې د دښمن د نظامي مورچلونو په بڼه اوښتي وو. د کابلستان او زابلستان ټولې کروندې او د پروان او کاپیسا، ننګرهار، او کندهار بزګران او بڼوال د جګړې دګرته وتلي وو، نو ځکه په ښارونو کې پیشې او کسب او کار او په کلیو کې کرنه او څاروي روزنه له منځه تللي و. خو ددې ټولو پر ځای په خلکو کې د انګرېزانو په وړاندې کرکه او د بهرنیانو په وړاندې ولولې راپارېدلې وې. د جګړې هر اتل د یو خپلواک مرکزیت بڼه غوره کړې وه. د افغانستان خزانه او جبه خانه تشه وه او لا هم پولو سره په خوا کې ځواکمن دښمن د یوه فرصت په کمین کې ناست و. د افغانستان دننه هم ځېنې ښاکګرو فیوډالانو له بهرنیو جګړو څخه په استفادې سره په خلکو باندې ډېر درانه بارونه اېښي وو. د بېلګې په توګه بنیادخان مالستاني له خپل اړوند رعیت څخه په کال کې ۴۰۰۰ پسونه او بل ځل ۲۲۰ منه (د کابل من) غوړي، د کابل په خروار ۱۳۷ خروار غنم او د ژېړو وریو لرونکي وریو څو منه وړی مالیات اخیستل، خو دولت ته یې یوازې ۴۰۰ پسونه ورکول. نایب یوسف خان یو بل فیوډال و، چې په ۱۸۸۵ کې یې د هیڅه په سیمه کې د خپل رعیت او وه تنه بزګران ژوندي په اور کې وسوځول. د بلوڅانو خانانو هم له خپلو بډایو رعیتونو څخه له یوې کورنۍ څخه په کال کې یو اوښ او له منځنیو بډایو څخه په کال کې یو پسه اخیست. محمد حسن خان یو بل فیوډال و، چې په خپله سیمه کې یې په خلکو باندې دومره درانه بارونه بار کړي وو، چې یو ځل ۲۰۰ کورنۍ په یو وار له سیمې څخه کډې کولو ته اړ شوې او په ۱۸۹۲ کې یې بېخي خپل کورونه پرېښودل او وتښتېدل.

امیر عبدالرحمن خان په هېواد کې دننه یوه دوه ګونی پروګرام درلو: یو یې یو مطلق العنان مرکزي دولت فیوډالي شرایطو کې جوړول و او بل یې په ټولنیزو چارو کې څه نا څه اصلاحات. امیر د خپل دغه پروګرام تطبیق ته کلکه ملا وتړله او د هغو په عملي کولو کې یې هېڅ ډول اخلاقي قیود و نه منل.

Scanned by CamScanner

کله، چې امیر عبدالرحمن خان د هېواد د پاچا په توګه اعلان شو. د دولت د نړېدلو تشکیلاتو په جوړولو یې پیل وکړ، خو د امیرشیرعلي خان د مهال د کابینې تشکیلات یې ونه منل. دا ځکه چې ده په مهمو چارو کې پرته له خپل ځان څخه پر بل هېچا باور نه درلود. نو په همدې خاطر د دولت ټولې څانګې بېلا بېلې او په خپلواک ډول جوړې شوې. چې ټولې په سیده توګه د پاچا تر نظر لاندې وې. امیر عبدالرحمن خان په عین حال کې صدراعظم، د حربیې وزیر، د کورنیو او بهرنیو چارو وزیر او د نورو څانګو او وزارتونو وزیر و. له همدې لامله دده د سلطنت په ټوله دوره کې مستقل الفکر او خپلواک په خپل ځای ویسا مامورین راڅرګند نه شول او زیاتره مامورین مطیع او یواځې د پاچا په اراده پورې تړلي وو. په هر حال، د افغانستان ملکي او نظامي تشکیلات په دغه دوره کې پراخ شول او زیات شمېر کاتبان او مامورین په کار بوخت شول. دغه تشکیلات د اړتیا او اقتصاد پر بنسټ جوړ شول. یو شمېر اعزازي او تشریفاتي ادارت په دولت کې نه و. د څانګو مامورین ښه فعال او د خپل کار مسئول وو. هېڅ ډول تیروتنه د بخښنې وړ نه وه او د خطا کار لپاره کلکه سزا ټاکل شوې وه، لکه عزل، مصادره، حبس، شکنجه (کړول) او آن دا چې ځینې وخت اعدام. د افغانستان ټول چارواکي د هغه قانون تابع و، چې (دستور العمل حکام و ضباط) په نوم جوړ شوی و. ټول قاضیان او قضایي څانګې د یو مدون قانون (اساس القضات) پابند بلل شوي وو. د حکومت د څانګو محاسبین هم د یوې رسالې ((شهاب الحساب) په واسطه رهبري کېدل. د کارونو د چټکوالي په خاطر د حاضري قاعده جوړه شوه او د وخت د نه ضایع کېدو په خاطر په دفترونو کې په جبري توګه نوك آهني قلمونه دود شول، دا ځکه چې کاتبان د قلم د تراشلو له لامله وخت له لاسه ورنه کړي. د دولت مهم ادارات دا وو: مالي او د استیفا دفتر، د نظام څانګه، سنجش او د سنجش د سنجش څانګه (د حسابونو کنترول)، د مال شمارلو څانګه، ډاک، پاسپورت (راهداري)، کوتوالي (امنیه او پولیس)، تحصیلي څانګه (مالیات، حیاتي (د معاش خوړونکو د حیات مصدق) مسکوك او په لسګونو نورې کوچنۍ څانګې. د دولت تر ټولو لویه موسسه (دربار) وه، چې د دارالانشاء د ایشك آقاسي ګري او نورو په لرلو سره د حکومت په سر کې وه. ټولو تشکیلاتو له ۱۸۸۵ څخه تر ۱۸۹۲ پورې پرمختګ وکړ. په ۱۸۹۲ کې د محراب او منبر نښان په رسمي توګه لیکونو کې دود شو. د افغانستان د دولت بنسټ نظامي تشکیلات وو. امیر عبدالرحمن خان په خپله یو تکړه قومندان و، نو ځکه یې خپلې ټولې هڅې د دولت د اردو په جوړولو کې وګومارلې. د افغانستان منظم اردو کې شپږ نوي زره او څلور سوه تنه وو، چې له اتیاوو پلیو کنډکونو (هر کنډك کې اووه سوه تنه وو) او څلوېښتو سپرو کنډکونو (هر کنډك کې ۴۰۰ تنه وو) د شاهي ګارد پلي زرکسیز څلور کنډکونه، درې اته سوه کسیز سپور کنډکونه او سل بالتریه توپچي، چې هرې باترۍ شپږ توپونه لرل او سل سل تنه توپچي سرتیري پکې وو. وروسته بیا د یو شمېر فیوډالانو زامنو ته هم یوه رساله جوړه شوه، چې د هلکانو رساله یې بلله او هره یوه ته د میاشتې دیرش روپۍ معاش ورکول کېده. دغه اردو په چونیو کې اوسېدل، چې تر مخې به یې معمولاً شلغم کرل کېدل او دوی به نظامي تمرینات کول. اردو به د نظامي ملایانو له خوا د رسایل لوستو نه (ناجیه او هدایت الشجعان) زده کول، چې د مذهبي

جهاد او نظامي اخلاقو د پیاوړي کولو په خاطر تالیف او چاپ شوي وو. هر پلي سرتېري ته د میاشتې اته روپۍ او سپور سرتېري ته شل روپۍ نغد معاش ورکول کېده او غله او د څارویو بوس هم په ارزان بیه له دولت څخه ورکول کېدل. هغه مهال د ډېر لوړ نرخونه په پلازمېنه (کابل) کې د خوراکي شیانو وو، چې هغه هم نیم من د پسه غوښه یوه روپیه وه، چې وروسته بیا د یو چارك غوښې بیه یوه روپۍ شوه. په قطغن کې د یوه پسه بیه دوه روپۍ او د کابل دوه منه پستې یوه روپۍ بیه لرله. د اردو لپاره سرتیري د (هشت نفري) په سیستم راټولیدل، یعنې د هېواد د وسلې داخیستو وړ هراتو تو اتباعو څخه یو تن یې (د نفوس د شمېر له مخې) چې عمر به یې له څوارلسو کالو پورته او له پنځوسو راکم و، عسکري ته په دایمي توګه نیول کېدل. د رخصتیو په ترځ کې د هر سرتیري پر ځای یو بل عوضي عسکري چوڼۍ ته غوښتل ترڅو په اردو کې کوم کمښت رانشي. هر سرتیری به، چې له جګړې څخه وتښتید، سزا یې ډېره کلکه او ځینې وخت اعدام وه. هغه سرتیري به، چې د جګړې په ډګر کې وروژل شول مور او پلار ته به یې د دوی تر مرګ پورې او اولادونو ته به یې د ځوانۍ تر عمر پورې مستمري معاش ورکول کېده. دغه اردو یو بل ټوپك لرونکي شپېته زریز ملاتړی ځواك هم درلود. نیم ته یې خاصه دار ویل کېدل، چې د هېواد په پولو او ادارو کې یې د پولیس دنده لرله د ژاندرام رول یې درلود. نیم نور یې (خوانین سواران) بلل کېدل، چې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې د دولت له خوا د ګومارل شویو خانانو تر مشرۍ لاندې وو او د اړتیا پر مهال به د دولت ملکي او نظامي چارو ته ور استول کېدل. د خاصه دارانو سل کسیزه بیرغونه د منظم اردو په پرتله. لږ معاش او امتیاز درلود او د (خوانین سواران) معاش تر هغوی څخه هم کم و، دا ځکه چې دوی ټول یا ځمکوال او فیوډال بزګران و، یا یې ملازمین او ګاونډیان وو یا یې هم خپلوان وو، او دولت په خپله فیوډال ته معاش ورکاوه. دغه معاش ثابت نه و، بلکې د هر فیوډال د دریځ په پرتله یې توپیر درلو. د بېلګې په توګه محمد اکبر خان لعلپوري خپلو ۱۷۵ تنو سپرو لپاره په کال کې ۴۸ زره نغدې روپۍ او ۳۷ خرواره غله ترلاسه کوله، خو یوه بل خان له خپلو شلو تنو سپرو سره یو ځای په کال کې درې زره روپۍ معاش درلود. یوه بل خان له خپلو ۲۰۰ سپرو سره په کال کې پېنځه زره روپۍ معاش اخیست. ددغه اردو بودیجه په یوه کال کې تر شپاړس میلیونو روپیو پورې رسېدله (پرته د وسلې او جبه خانې له پیردلو څخه) د افغانستان اردو یواځې همدا ملاتړي قوت الظهر ځواك نه درلود، بلکې وروسته تر ۱۸۸۷ کال څخه دا هم مقرره شوه، چې په ټول هېواد کې به د نفوسو له هرو شلو کورنیو څخه یو تن سرتیري د یو کال لپاره اردو ته لېږل کېږي، چې معاش او لګښت به یې خپل وي او په ځانګړي نظامي ډګر کې به د جهاد په نوم تمرین او د هېواد په پولو کې به خدمت کوي او په بل کال به بل تن راځي. ددغه سرتیري او دده د کورنۍ لګښت د هماغه شلو کورونو په غاړه و، چې دی ورڅخه راغلی و، دولت یواځې د عسکرو د خوراك اوړه چمتو کول امیر عبدالرحمن خان، د هرات قلعه نو کې یوه مقرره وټاکله، چې هر سل کورونه باید خان ته یو خان وټاکي او هر لس کورونه به په خپل لګښت یو سپور سرتیری دولت ته ورکړي، یعنې دغه خان به لس سپاره سرتیري تر خپل واك لاندې ولري. له دغو ټولو تشکیلاتو سره یو ځای اردو د وسلې او غلې

Scanned by CamScanner

سیلوګانې، د آسونو د لېږدولو کمندونه او د اوښانو او کچرو کمندونه هم لرل. امیر عبدالرحمن خان ډېره هڅه کوله، چې د دولت د جنګي مهماتو زېرمه د یو میلیون سرتېرو لپاره چمتو کړي، په همدې خاطر یې د دولت د ټولو مامورینو له معاش څخه په کال کې د یوې میاشتې معاش د وسلې د پیرېدلو په خاطر ستناوه. ډېر ژر په ۱۸۸۲ کال کې د دولت د یوه فرانسوي مستخدم (شورم کریشګر) په واسطه له اروپا څخه یوه حربي فابریکه، چې د بخار په انرژي یې کار کاوه. د لومړنۍ فابریکې په توګه وپیرودل شوه او هېواد ته وارده شوه او د ماشین خانې په نوم په کابل کې ودرول شوه. په دغه فابریکه کې ۴۰۰۰ تنو کارګرانو کار کاوه، په یوه کال کې یې ۱۰۴ توپونه ۵۲۰۰ ټوپک او یو شمېر نور ضروري شیان تولیدول، چې هغه داوو: سارایي دنباله پر مخکني توپونه، غرني قاطري توپونه، د استحکام توپچي، غرابین ماشیندار، هنري مارتین ډوله ټوپک، ۳۰۳ بر ټوپک، بغل پر ټوپک، دولس ډزي، جاغور لرونکي پینځه ډزي، ښکاري دوه میله، کرچ برچه، چاړه، خنجر، چوړکۍ، چاکو، باروت، کالتوس، شرنپل، پولادي او چواني ګولۍ، برنجي خولونه، د توپونو او ټوپکو پټاقۍ، برنجي فیوزونه، د لرګي فیوزونه او نور. دغې فابریکې څه نا څه په لاس باندې هم تولیدات ترسره کولای شول او لاندیني شیان یې په لاس جوړېدل: نظامي دریشي، خیمې، بیرغونه، بوټان او موزې. د سماغو او خولۍ، لروینونه، د جمناستیک سامان او نور. دغې فابریکې په لاندې توګه صنعتي څانګې درلودې: پښګري، ترکاڼي، سراجي، حلبي جوړول، فلزکاري (زرګري ، مسګري، د وسپنې ویلي کول، سکه جوړول. ګلیټ کاري) او نورې څانګې. دغې فابریکې د سیم دوزۍ، صندوق جوړولو، بیټ اوبدلو، ګل جوړولو. حکاکي، ارابې جوړولو. لیتوګرافي چاپ، جرابې جوړول، سترنجۍ او غالۍ اوبدلو، کاشي جوړولو، د تیرېږ تورلو څانګه. نقشه کشي، چوان جوړول، ښیښه جوړولو . اسپریت کشي او سوان جوړولو څانګې هم درلودې.

## مالیات او عایدات

امیر عبدالرحمن خان له خپلو هغو پراخه نظامي او اداري تشکیلاتو سره یو ځای، چې کوم ریفورمونه په پام کې لرل، پیسو ته اړتیا درلوده، نو ځکه یې په پخوانیو مالیاتو کې زیاتوالی راوست د بېلګې په توګه ده نوي مالیات وضع کړل او دې خبرې په بزګرانو او نورو زیار ګالونکو خلکو باندې یو دروند بار ور زیات کړ. د بېلګې په توګه د للمې ځمکو کلنۍ مالیات، چې لسمه برخه وو ، پینځمې برخې ته لوړ شول. د یوه اوښ مالیه په کال کې پخوا یوه روپۍ او شل پیسې وه، دا مهال دوو روپیو ته لوړه شوه (یوه روپۍ ۲۰ پیسې کېدې) همدا رنګه په میوه لرونکو ونو باندې هم نوي مالیات وضع شول. د کوچیانو په هغو څارویو هم نوي مالیات اضافه شول، چې ژمي به هند ته تلل او اوړي به راتلل. له هغو څخه د هرو ۴۰ پسونو (میږو) او وزو په سر څلور روپۍ مالیات له هر اوښ څخه یوه روپۍ او له هرو څلورو غواوو څخه یوه روپۍ مالیه اخیستل کېدده او له هر خره څخه هم یوه روپۍ مالیه اخیستل کېده.

په عمومي توګه سیده او ناسیده مالیات بېلا بېل وو لکه د کور په سر، زکات، د خولۍ او جوال مالیه، دخولیو او څپلیو د خرڅلاو مالیه. د مسي لوښو خرڅولو او نور مالیات. د بېلګې په توګه له سلو روغو

څارویو څخه یو پسه او لس نیمې روپۍ (له میږو او وزو څخه) او له ناروغو څارویو څخه په هر سلو کې لس روپۍ اخیستل کېدې، یا هم د شمېر له مخې هرو زرو میږو او وزو څخه دوه پسونه او له آس څخه یوه روپۍ زکات اخیستل کېده، خو د سورلۍ له آس څخه د کور د شیدې ورکوونکې غوا څخه، کولبه یې غوایي او هغه خره او غویي، چې په رمه کې نه بلکې کار یې کاوه، مالیه او زکات یې نه و، په څرځای باندې مالیه داسې وه: غوا ۵۰ پیسې، خره ۳۰ پیسې، اس یوه روپۍ، اوښ یو غیران (نیمه روپۍ) له سلو پسونو څخه دوه روپۍ او له سلو وزو څخه یوه روپۍ مالیه. له بې ځمکو خلکو څخه (لکه د پنجشیر تر څنګ له نورستانیانو) څخه به د کور په سرمالیه اخیستل کېده.

د دوی مالیه له یوه کور څخه څلور روپۍ وې. که به چا د جنس پر ځای نغدې پیسې ورکولې، نو د جنس او څاروي پر ځای په لاندې توګه پیسې اخیستل کېدې: د یوې غوا پر ځای لس روپۍ. د یوه کولبه یې پر ځای ۲۰ روپۍ او د وزې پر ځای دوه روپۍ. همدا رنګه نوي مالیات پر ودونو. کورنیو راکړو ورکړو او د مړو په متروکاتو هم وضع شول. د بېلګې په توګه د پېغلې له نکاح څخه ۱۲ روپۍ او د کونډې له نکاح څخه شپږ روپۍ او ۳۰ پیسې اخیستل کېدې. دوه روپۍ د نکاح تړونکي ملا اجوره وه او یو غیران د نکاح خط ټکټ تاکل شوی و د مړي متروکه مالونو او نورو راکړو ورکړو څخه هم په سلو کې نیم سلنه مالیه اخیستل کېده. په صادراتو باندې مالیات په دې توګه وو: د روسیې قلمرو ته له هر پسه څخه یوه روپۍ او د خمیاب له بندر څخه هر تلونکي څخه لس پیسې. د کابل په دوه نیم چارکو غوړیو یوه روپۍ او ۱۲ پیسې مالیه او د هرې غوا له بیې څخه په شلو روپیو کې اته روپۍ مالیه وه. همدا رنګه هندوستان ته له نر آس څخه مالیه اخیستل کېده، د اسپې صادرول بېخي بند و. هغه مهال په منځنۍ توګه هر کال دوه زره آسونه هندوستان ته صادرېدل، چې ټاکلې اندازه مالیه ور څخه اخیستل کېده. له یو بار پوستکي لرونکي پسټې څخه ۱۵۰ روپۍ مالیه اخیستل کېده او له نورو مالونو څخه له هر بار څخه ۳۰۰ روپۍ مالیه اخیستل کېده. د وارداتو مالیه هم بېلا بېله وه، خو په عمومي توګه د واردېدونکو اجناسو د بیې څلوېښتمه برخه په مالیه کې اخیستل کېده، چې د (کوشې) په نوم د هېواد په سرحدونو کې د دولت په حساب ترلاسه کېدل. د سوداګرۍ دغه مالیه په نسبي توګه یوه سپکه مالیه وه، کندهار چې د هېواد یو مهم تجاري مرکز و مالیه یې په یوه کال کې ایله څلور سوه زره روپۍ کېدې، چې ددې مانا دا وه، چې په سوداګرۍ باندې ټیټه مالیه وضع شوې وه، هغه مالونه به چې کوچیانو له هند څخه راوړل، د هغو د بیې له مخې په سلو کې درې روپۍ ور څخه مالیه ګرځول کېده.

امیر عبدالرحمن خان له ځمکې څخه د مالیې د ټاکلو په خاطر جریب کشي د بنسټ په توګه وټاکله. هغه څاروي هم وشمېرل او په ۱۸۸٦م. کال کې یې ۱۳۲۳ بې ځمکې څاروي روزونکي کورنۍ له فراه او کندهار څخه په زور سره د هرات د بادغیس او مرغاب څرځایونو ته واستولې او هلته یې ده نشین کړې. دغو خلکو ته یې ځمکې ورکړې او د دوی د سفر، تخم او غویانو لګښت هم ورکړ شو او دا یې ورته وټاکله، چې څلور کاله وروسته به دولت ته مالیه ورکوي. همدا رنګه د یو شمېر سیمو د مالیاتو په ټاکلو کې یې یو څه آسانتیاوې راوستې. د بېلګې په توګه د اندړو له خلکو څخه یې د عشر محصل

(سمه برخه) اخیست او د شینوارو خلکو (حیدرخېلو، پشه ییانو او رحیمداد خېلو) ته یې په کال کې ۱۸ زره روپۍ مالیه وښکله. ټول هغه اوقاف، چې له پخوا څخه په افغانستان کې موجود وو، هغه یې له ارثنامو او د روحانیانو نو له تصدیق لیکونو سره د مستمرې خوړونکو له تائید سره یو ځای ضبط کړل. براخې هغو کسانو ته یې مستمرې د (هغه د یو نوي رقم له مخې لږ څه کمه) ور پرېښوده، چې د دولت په چارو کې یې برخه اخیسته. له مالیې ورکولو څخه د روحانیونو معاف کول لغو شول او دوی د دولت په خدمت کې وګومارل شول. د کرنې د پرمختګ په خاطر د غزنې د اوبو پخوانی بند بیا ورغول شو او د غورې او اجمیل نوې نهرونه په قطغن کې وکیندل شول. د پومبې تخم له امریکې څخه، کورکمن او زنجیل له هند څخه او ګنې له لاهور څخه، ناک له سمرقند څخه، باقلي باب، یو شمېر ونې او ګلان له اروپا او افریقې څخه، آسونه له سیلان (سیلیون) او ایران څخه او خره بخارا څخه وارد شول. خو یو شمېر د اقلیم د نه مساعدوالي له کبله بې نتیجې وختل لکه هندي پسونه، چې لندن څخه راوړل شوي وو. همدا رنګه د هېواد دننه یو شمېر بوټي او زړي یو ځای څخه بل ځای ته یووړل شول او وکرل شول. د بېلګې په توګه د بدخشان شیرتوت نورو سیمو کې رواج شول او د سیستان قونورو ولایاتو ته ولېږدل شول. په دې توګه د دولت مالیات او عواید لوړ شول. د بېلګې په توګه د کندهار مالیات په ۱۸۹۷ م کې شپږ میلیونه او ۲۲۰ زره روپیو ته ورسېدل او د میمنې کلنی خالص نغدي مالیات ۲۰۰ زره روپیو پورې ورسېدل. د هر ولایت نیم مالیات په خپله د ولایت دننه لګول کېدل او پاتې نور عمومي خزانې ته سپارل کېدل. په داسې حال کې، چې د دولت غله ګې او جنسي مالیات په دې حساب کې نه راتلل. له دې سره یو ځای په هېواد کې د سوداګرۍ ودې، د پیشه ورې او کاروبار ترقي او د دولت د تجارتي تصدیومالیاتو د دولت عواید، چې په پیل کې یواځې دیرش میلیونه روپۍ وو، په کال کې تر شپیته میلیونه روپیو پورې لوړ کړل. خو ستونزه دا شوه، چې د دولت د سیده او ناسیده مالیاتو راټولول د اجاره دارانو مزایدې ته وسپارل شول. دغه کار ددې لامل شو، چې اجاره داران په مالیې کې پراخ لاس ولري او عام خلک له کړاو او زیان سره مخامخ شي. همدا رنګه د دولت د مالي ادارو په ځانګو کې (داوطلبي) معموله وه، په دې حالت کې هر ماجراجو سړي کولای شول، چې د یوې مالي ادارې په رئیس باندې د وهنې دعوا وکړي او د عوایدو د زیاتولو او د لګښتونو د کمولو ژمنه وکړي. دغه ډول داو طلبي ډېره په آسانۍ منل کېدې او داو طلب به د خپلې ادعا په رښتینې کولو سره د تورن ځای نیو، خو د نه رښتیا کېدو په صورت کې به کومه سزا نه ورکول کېده. د بېلګې په توګه په ۱۸۹۴ کې میرزا جلال الدین خان دغزنې سر دفتر د خپل دفتر د یوه کاتب مرزا عبدالاحمد خان تر ادعا لاندې راغی، چې له دندې لرې او بندي شو. مرزا عبدالاحمد خان یې پر ځای کښېناست او بیا وروسته د دولت یو لوی مامور شو.

امیر عبدالرحمن ډېره لږ سپما کوله، هغه دغه ټولې پیسې (د دولت عراید)، له هغو نورو سره، چې له انګلیس څخه یې اخیستې (په پیل کې د کال یو میلیون او دوه سوه زره کلدارې او بیا وروسته په کال یو میلیون او اته سوه زره کالدارې) ټولې لګولې. کله، چې امیر مړ شو د دولت د سپما په زېرمه کې یواځې

۲۰ میلیونه روپۍ او یو څه سره زر ډو د دولت په لګښتونو کې غوښنه برخه د نظامي لګښتونو برخه وه، چې د دولت د ټول لګښت دریمه برخه یې جوړوله، وروسته له هغه د امیر دربار ډېر لګښت درلود، چې ډوډۍ او دسترخان یې پراخ شو. یواځې د امیر په شربت خانه او سرکه خانه کې ۱۵۰ ډوله اچار، مربا او سرکه جوړېدله، حال دا، چې د دولت نورو ادارو په ډېر احتیاط او سپما سره کار کاوه. د امیر د کوچنیو زامنو (سردار امین الله خان- سردار محمدعمرخان او سردار غلام علي خان) بودیجه لکه هغسې، چې فیض محمد لیکلي (سراج، دریم توك، ۹۲۴ مخ) په دې توګه وه: د هر شهزاده میاشتنی نغد معاش ۲۰۰ روپۍ او په میاشت کې دوه جوړې ماهوت او مخمل هم ساده او هم چرمه یي لیس، یو جوړه بوټ، دوه جوړې جرابې، یوه قره قلي خولۍ، یو وربښمین دسمال او یوه جوړه سپین کمیس او پرتوګ. د شهزاده ګانو غلام بچه ګانو او وینځو ته د میاشتې او په کال کې دا ورکول کېدل: د هر غلام بچه میاشتنی معاش ۲۰ روپۍ او د هرې وینځې پینځه روپۍ. هر یوه ته څلور جوړې ښځینه جامې او کمیس او پرتوګ او ماهوت دریشي او د کشمیرې دریشي او خولۍ.

البته د دوی د خوراك لګښتونه د دربار له پخلنځي څخه وو او د سورلۍ آسونه یې په دولتي کمندونو کې ساتل کېدې.

## سوداګري

البته د افغانستان فیوډالي سیستم، چې د پېړیو په ترځ کې پر مخ راغلی و، ورو ورو یې خپل سیاسي ملوك الطوایفي بڼه بدلوله، خو د ابدالي پرځېدو او د ځمکوالو او فیوډالانو تر منځ د اخ و ډب نوې بڼې اوّ په نولسمه پېړۍ کې د انګرېزانو جګړو یو ځل بیا هېواد د زړې ملوك الطوایفي خوا ته بوت. امیرعبدالرحمن خان وکولای شول، چې یو ځل بیا په فیوډالي شرایطو کې دولت ته مرکزیت ورکړي او د ټول هېواد سراسری امنیت ډاډمن کړي. سره له دې، چې اقتصاد د فیوډالي رژیم ځانګړتیا لرله، خو بیا هم جنسي تبادله او په پیسو تبادله مخ پرمختیا وه او په یوه پراخه دایره کې د سوداګریزې پانګې راټولیدل او د سرمایې پیدا کېدو ته یوه مقدمه پیل شوه. یعنې هغه زړی، چې د امیر شیرعلي خان له منځه تللو سره یو ځای له منځه تللې و، بېرته را ژوندی شو او په ملي کچه سوداګریزه پانګه رامنځته شوه او د نورو شلو کالو لپاره تجاري یا سوداګره بورژوازي طبقه سره راټوله شوه او ورو ورو یې نوی کلتور راڅرګند شو.

امیر عبدالرحمن خان د امنیت په ټینګښت کې ډېرې هلې-ځلې وکړې، آن دا، چې مرزا یعقوب خان خافي د هغه مهال لیکوال لیکي، چې غله به پاتې کېدل او که چېرې به سوداګریز کاروانونه غلا شول، نو خامخا به غلا شوي مالونه بېرته پیدا کېدل او بېرته به سوداګرو ته سپارل کېدل. دغه لیکوال لیکي، چې: یوه ورځ په یوه دسمال کې نغاړل شوې پیسې په کابل شور بازار کې په لویه لاره پرتې وې. هېڅوك زړه نشو کولای، چې لاس ور وړي تر څو چې یو سپاهي (کوټوال) راغی او هغه یې واخیستې او د ښار په چوك کې یې ځوړندې کړې، خاوند یې راغی نښه یې وویله او وایې خیستې. دغه عمومي امنیت سوداګري آسانه کړه او د هېواد دننه د لویو لویو بازارونو د جوړېدو لامل شوه. د فیوډالي اقتصاد ګوښه

Scanned by CamScanner

کېدلو سره د ملي سوداګرو د بورژوا طبقې راڅرګندېدو ته لاره هواره کړه او بهرنۍ سوداګرۍ هېواد د نړېوالې پانګوالې مارکیټ ته برابر کړ، خو له دې لامله، چې انګلیسي تولیدات ډېر زیات افغانستان ته واردېدل او سره له دې، چې دولت د داخلي صنایعو او کورنیو تولیداتو لپاره یې یو حمایوي سیاست هم درلود، خو بیاهم داخلي صنایع له ماتې سره مخامخ شول. یواځې هغه صنایع په خپل په قوت پاتې شول چې هغو ته ورته یا مشابه اجناس نه واردېدل. په دې توګه بهرنۍ سیالي د داخلي صنعت د ترقۍ مخه ونیوله له بلې خوا د هېواد په سوداګرۍ کې هندي معامله ګرانو او سود خورو ډېر لوی لاس درلود.

امیر عبدالرحمن خان په مشهد او پېښور کې تجارتي نماینده ګي او په کراچۍ کې قونسل (تجارباشیان) چې له هر ولایت پورې یې اړه لرله، مېشت کړل او د تقاوي سیستم یې پیل کړ. د هېواد دننه هر سوداګر ته له پېنځو زرو څخه تر پنځوسو زرو روپیو پورې د منځنۍ اندازې پور ورکول کېده، چې ضمانت به ورڅخه اخیستل کېده، خو سود یې نه درلود. په کراچۍ کې د افغانستان د سوداګرو استازي دا واك درلود، چې د اړتیا پر مهال هغو سوداګرو سره د ۱۵۰ زره کلدارو په اندازه مرسته او مالي ملاتړ وکړي، چې له مالي ماتې سره مخامخ شوي وي. له دې پرته امیر عبدالرحمن خان یو ډول داسې سوداګریز رسمي تصدیقونه جوړ کړل، چې د هغه له مخې سوداګرو د قره قولي پوست، بادام، پسته، لرګي او کاني ډېرې بهر ته لېږلې. دغه سوداګري، چې د دولت په حساب ترسره کېده بخارا ته د قره قل د صادرولو له سرچینو څخه په هر ځل دوه لکه څخه زیاتې روپۍ ترلاسه کېدې. وچه میوه او کاني توکي هند ته صادرېدل. د افغانستان کاني تولیدات په ډېرو لومړنیو ابزارو سره جوړېدل په لاندې توګه وو: د بېلګې په توګه په ۱۸۹۵م. کال کې د جګدلك د کان یاقوت د کابل په من لس منه ایستل شوي و او هند کې پلورل شوي وو. لال ۵۵۰ مثقاله لاجبر شپږ خرواره (د کابل په خروار) سرپ اته خرواره او ځومنه په همدې کال کې د بدخشان له کان څخه ډېرې ایستل شوې وې او بهر ته صادرې شوې وې. همدا رنګه دولت د هېواد دننه د تریاکو خیرېدل منع او د هغو بهرنۍ سوداګري یې په خپل لاس کې ونیوله.

کله، چې دولت د خوراکي توکیو صادرول آزاد او ټکس یې ورباندې ولګاوه، ددغو توکیو بیې د هېواد دننه لوړې شوې، د بېلګې په توګه د پسه غوښه من له یوې روپۍ څخه یو چارك یوې روپۍ ته لوړه شوه، د قطغن پسته، چې په سیمه کې دوه منه په یوه روپۍ وه پاو په دوه روپۍ شوه.

دولت له ترانزیتي مالونو څخه د هر اوښ په سر ۲۵ روپۍ ګمرکي مالیات اخیستل. هغه مهال په کابل کې اسعار په لاندې توګه پېرل-پېرودل کېدل: یوه هندي کالداره په یوه نیمه کابلۍ روپۍ په کندهار کې ۴۲۲۲ کالدارې له اته زره کندهاري روپیو سره بدلیدې (په بخارا کې د سرو زرو د یوه دانه په لسو کابلیو روپیو پیرودل کېدل) په کابل کې بخارایي سره زر یوه دانه ۱۴ کابلۍ روپۍ پیرودل کېدې، کاغذي سکې روسي سل صومې په کابل کې په ۳۰۰ کابلیو روپیو تبادله کېدې، وروسته بیا ارزانه شوې.

Scanned by CamScanner

## پیشه وزي او صنایع

کله چې په هېواد کې عمومي امنیت لږ څه ټینګ شو او افغانستان په ښارونو کې سوداګري پرمختګ وکړ او په ټول هېواد کې سراسري بازار رامنځته شو، لاسي صنایع او سیمه ییز کاروبارونه بېرته را ژوندي شول. صنایعو ته تقاضا او د صنعت پرمختګ د وړیو، قناویز، الچې، تغر، پوستین او نورو لاسي کارونو ته پرمختګ ورکړ. د کابل د حربي فابریکې او چرمګرۍ فابریکې تولیداتو د فلزي او څرمنو شیانو په څانګه کې ازادو صنعتګرانو ته هم لاربښوونه وکړه او دغو دوو فابریکو په نورو سیمو کې په فلز کاري او څرمن صنایعو کې پرمختګ راوست. په تېره بیا هغو برخو ښه پرمختګ وکړ، چې لا د بهرنیو مصنوعاتو له سیاست سره نه و مخامخ. د دغو صنایعو تشویق او حمایت د هغو پرمختګ نور هم ګړندی کړ او د کورنیو اړتیا د لار پوره کېدو لامل شول. خټګري، ترکاڼي، ودانۍ جوړولو، زرګري او پښګري هم ښه پرمختګ وکړ. د دغې دورې ودانۍ د دغه هېواد د ودانۍ جوړولو او د هنر یوه غوره بېلګه وه لکه د کابل ارګ، د ګلستان سرا او بوستان سرای ودانۍ (اوسنی باغ زرنګار د هغو دوارو ځای ونیو) د کابل میلمستون (چې اوس د کابل په ولایت اوښتی)، د شهر آرا ځلی (چې اوس کنډواله پروت دی) لندني کوټۍ (چې بیا وسوځېده او په یو چمن بدله شوه) د کوتوالۍ ګومبنده (چې اوس هلته د خیبر هوټل جوړ شوی) د بابر بڼ د حرمسرای ودانۍ. د چرمګرۍ د بڼ ودانۍ د علیا سرای ودانۍ (دا هم وروسته وسوځېده، عیدګاه جومات، شاهي جومات، پل خشتي جومات سلام خانه عام، سلام خانه خاص (چې یو مهال وسوځېد او بیا د کابل په سینما بدله شوه) د باغ بالا ودانۍ، په خپله د امیر د مقبرې ودانۍ، د پغمان سلام خانه، مهتاب قلعه، د چهلستون پخوانۍ ماڼۍ، همدا رنګه په هرات کې د زرنګار ودانۍ، په خلم کې جهان آرا په جلال آباد کې شاهي ماڼۍ، په کندهار کې منزل باغ او په کابل، خوست، دهدادي او هرات او نورو ځایونو کې یو شمېر نظامي چوڼۍ او ځینو ولایتونو کې یو شمېر پلونه.

خو د فرهنګ په هکله: په دغه دوره کې د نوي فرهنګ کوم ځلنده ټکی نه تر سترګو کېږي، دغې برخې ته امیر دومره بې پامه و، چې کېدای شي د فرهنګ د ودې په مخنیوي کې د هغه قصد او تعمد هم وبولو، دا ځکه چې امیر عبدالرحمن خان له نوي فرهنګ او تمدن څخه خبر و، خو بیا یې هم اقلاً یو ښوونځی جوړ نه کړ او نه یې هم کومه جریده راوایسته حال دا، چې افغانستان په دې دواړو برخو کې سابقه لرله. یوازې د لیتوګرافي مطبعه یې راوړه او یو څو رسالې یې د پاچا د اطاعت په هکله او د مالیاتو د تحویلاتو په هکله او څو اداري قوانین یې چاپ کړل. د چوب فروشي د شاهي بازار په جومات کې یې یوه کوچنۍ مدرسه جوړه کړه، چې په هغې کې یې د فقهي تدریس پیل کړ، په دغه مدرسه کې دوو تنو ملایانو، چې یو یې د ننګرهار او بل یې د کندهار د ملا غلام محمد او ملاابوبکر په نومونو ود درس ورکاوه، وورسته له دندې لرې کړل شول او پر ځای یې په ۱۸۹۳ کال کې ملا احمد جان توخي او ملا ګل احمد احمدزايي مقرر شول، خو ددې پرعکس ګڼ شمېر خرافي او اساطيري رسالات او مطبوعات له انګلیسي هند څخه لکه دیوه سیلاو په شان مخ په افغانستان راغلل، چې د هېواد ځوان نسل یې د اوهامو تیارۍ، فال کتلو او د نورو خرافاتو خواته په شا بوت.

Scanned by CamScanner

**اداره**

امیر عبدالرحمن خان یو ډېر کلك زړی او غوسه ناك سړی و. دده د مهال یو لیکوال یعقوب علي، چې په بلخ کې اوسېد لیکلي: سردار عبدالرحمن خان په ځوانۍ کې په ټوپك د ښښې ویشتل زده کول. یوه ورځ بې د مزار له ښار څخه بهر د ښښې ویشتو پر مهال وویل: د ټوپك ګولۍ سړي وژني او که نه؟ وروسته بې بیا خپل غلام بچه څلور ګامه هاخوا ودراوه او په ټوپك یې وویشت او مړ یې کړ (ورته ویې خندل). کله چې دغه خبر مشر سردار (دده پلار د بلخ والي) ته ورسېد وربانديې په غوسه شو او یو کال یې په توپخانې کارګاه کې بندي کړ. سردار په محبس کې ویښتان جوړ نه کړل او نه یې جامې بدلې کړې، تر څو چې له بند څخه راخوشې شو.(۱) امیر له دغه ډول یوه خوي او عادت سره د سلطنت په تخت باندې کښیناست او په ډېر ظلم سره یې واك وچلاوه. په تېره بیا وضعیت په داسې ډول راغلی و. چې دده غوښې او تاوتریخوالي او قهرجنو کړو وړو ته پوره لاره هواره شوې وه. امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۸۰ کې پاچا شو او له ۱۸۸۱ کال څخه وروسته دده په وړاندې بېلا بېل غبرګونونه پیل شول، چې دیارلس کلونه وخت یې ونیو. دغه پاڅونونه او غبرګونونه بېلا بېل وو یو ځای کې دسیاسي پاڅون په بڼه وو، چې د ملي جهاد د رهبرانو له خوا رهبري کېدل، ځکه چې د امیر چلند یې له انګریزانو سره ولید او هم یې د ملت رهبران ولیدل، چې د امیر تر توري لاندې راغلل. هغه د ولس رهبران. چې دامیر له انتقام سره مخامخ شول او د امیر په ضد یې فعالیت پیل کړی دا وو: جنرال محمدجانخان وردك او محمدافضل خان وردك، میربچه او میر درویش خان بابه قشقاري، برزو خان، غلام محمدخان او جلندرخان تتمدره یي، محمدعظیم، عبدالسمیع خان او فتح محمد خان بایاني، عبدالغیاث خان جلالزی. مشك عالم او عبدالکریم خان اندړ، سپه سالار حسین علي خان، نایب سالار او داودشاه خان او عبدالرحیم خان برګشت، دلاور خان میمنه ګي، محمد اکبر خان لعلپوري، پیر دوست خان احمدزي، محمدافضل خان او محمدموسی خان ساپی، محمد شاه خان غلجي، عصمت الله خان او ارسلا خان او بهرام خان جبارخېل او یو شمېر کندهاري او کوهستاني روحانیون لکه ملا امیر محمدخان، ملا عبدالرحیم خان، ملا عبدالاحدخان او نور... بل یې د کندهار د خلکو پاڅون، د محمدایوب خان پاڅون او د هوتکو او ناصرو تره کو او اندړو پاڅونونه وو، چې له غزني تر میمنې او هرات پورې تر سترګو شول. دا ټول سیاسي پاڅونونه وو.

بل ځای کې د دهقاني پاڅونونو په بڼه وو، چې د نویو مالیاتو د زیاتوالي له لامله تر سترګو شول، لکه د پنجشیر، نجرو، درنامه، ترکمن خلکو او د پارسا د بزګرانو پاڅون. همدا رنګه په بدخشان کې د راغ د خلکو پاڅون، په هرات کې د جمشیدیانو، فیروزه کوهي او د مرغاب د خلکو پاڅون، په پکتیا کې د ځاځیو، ځدرانو او منګلو پاڅون، په فراه کې د بلوڅانو او په کندهار کې د نورزیو او اڅکزیو پاڅون او د سلمانخېلو او غلجیو کوچانو پاڅون، چې دا ټول د مالیاتو د زیاتوالي په وړاندې د خلکو غوسه وه، تر ټولو خونړي کورنی اړ-دوړ هغه له مرکز څخه د تښتېدونکو فیوډالانو پاڅون و. چې په ډېر

۱. پادشاهان متاخر، لومړی ټوك، ۸۱ مخ.

سختی سره وځپل شو. د انګلیسي دولت د سیسو او لمسونونو د هڅواد په ختیزو څنډو کې ازدور رامنځته کړ او د هغوی ګوډاګیانو لکه سردار نورمحمد، سردار پیرمحمد سردار بازمحمد، سردار محمدحسن او سعدوي کړوځپل او نورو پکې لاس درلود. دغو لمسونونو په پکتیا شینوارو، کونړ، باجوړ او د هڅواد په ختیزو پولو کې په پرله پسې توګه د فتنې اورونه بلول او په شمال کې روسې د سردار محمداسحق خان په لاس دغه ډول اور بل کړ. امیر عبدالرحمن خان، چې لا پخوا مست و. نو دغه وضعیت نور هم ده ته جام په سر ور واړاوه او هغه د وحشت او وینو په تویولو په دغو پېښو باندې برې ومونډ او یو مطلق العنان دولت یې د ظلم پر کنډوالو باندې ودراوه. ددغه دولت بنسټ د بند. پانسی. کړاو، جاسوسي او ویرولو په تیرو باندې ولاړ و تر څو له یوې خوا د خلکو پاڅونونه وځپي او له بلې خوا هغه ملوك الطوایفي، فیوډالان او روحانیون، چې مخالف و هغوی له منځه یوسي او ځای یې هغو فیوډالانو او روحانیونو ته ورکړ. چې د دولت پلویان او چوپړیان وو. امیر د دولت په وړاندې هیڅ مقاومت کوونکی قوت پرې نښود. ټول یې په هغو وسایلو سره له منځه یووړل، چې پخوا یې ډېرلږ سابقه درلوده، د بېلګې په توګه:

## د استخباراتو اداره

د امیر عبدالرحمن خان د جاسوسي کړۍ ډېره پراخه وه، چې ښځې او نر پکې وو او په خپله د امیر د سیده نظر لاندې وو. ددغې ادارې یوه برخه علني وه، جاسوسان هغه یوائیني قشر و، چې د امیر عبدالرحمن خان د ۲۲ کلن سلطنت پر مهال په خپل ځان او مال ډاډه او د نورو خلکو په ځان او مال واکمن وو. له دې لامله، چې امیر ډېرې تقاضاوې درلودې، نو شر خوښوونکو وګړو ځانونه د جاسوسي چوپړ ته وړاندې کړل، چې په ټولنه کې یې ډېرې بدې اغېزې پر ځای پاتې شوې. د بېلګې په توګه فیض محمد په یو ځای کې لیکي:

د محمد امین بارکزي د مور په نوم یوې ښځې له کندهار څخه د عندالله جاسوسي اجازه او په خپل د امیر حضور ته په سیده توګه د کتنې وخت وغوښته. امیر هغې سره کتنه منظور کړه.(۱)

مرزا ګل محمد خان په خپلو سوانحو کې ددغې ښځې په هکله لیکلي دي: د محمد امین بارکزي مور به ډېرې ورځې له خپل مېړه سره په ښکاره توګه د کندهار د والي دفتر ته راتله د هغه تر څنګ به کښېناسته او د چارو کتنه به یې کوله او کابل ته به یې راپورونه لېږل. والي او مامورین ټول له دغې ښځې څخه وېرېدل.

امیرعبدالرحمن خان دومره وخت نه درلود، چې زرګونه جاسوسان او راپورونه په خپله وڅېړي او بیا امرونه ورکړي، خبره دې ځای پورې ورسېدله، چې فقط د جاسوس راپور به د امیر د امر د صادرېدو لپاره د اعتبار وړ و. یعنې همدا، چې یو راپور به په چا تور ولګاوه، نو تورن به یا عزل، یابندي یا به مصادره کېده بیا به یو شمېر ابتدایي تحقیقات پیل کېدل، چې هغه به هم په مودو مودو ځنډېدل او کله

۱- سراج، دریم ټوک ۱۱۸۲ مخ.

به چې تر سره هم شول، نو په ډېر کراو به ترسره شوی و او تورن به شکنجې لاندې نیول کېده. که چېرې به کوم یو ددغو تحقیقاتو په پایله کې بری الزمه ووت او راخوشې به شو، نو ده به لا د مخه د حې په دوره کې خپل شته له لاسه ورکړي وو. امیر ته د جاسوس او جاسوس ارزښت دومره او چت بندیخوب آن د دولت ډېرو لوړو پوړیو چارواکو هم د ځان د ساتلو او د خپلو سیالانو د له منځه وړلو په نو، چې پیل کړه. د لوړ پوړیو چارواکو د جاسوسي د محافلو کار دې حد ته ورسېد، چې په خاطر جاسوسي پیل کړه. د لوړ پوړیو چارواکو د جاسوسي د محافلو کار دې حد ته ورسېد، چې په نیلو منځو کې به یې د یوه سړي د وژلو شرط په یوې پیالې پیروې باندې تاړه، آن دا چې د وژلو ورځ او دوژلو ډول هم په دې شرط کې راتلل همداسې هم انفرادي جاسوسانو د خپلو شخصي احساساتو له مخې یا هم د مادي ګټې په خاطر وکولای شول، چې هر هغه څوك له منځه یوسي، چې زړه یې غوارې. وروسته وروسته بیا د لوړ پوړیو جاسوسانو تر منځ کشمکش پیدا شو او د شخصي دښمنیو له مخې بېلا بېلې ډلې جوړې شوې. چې دا په خپله د توطئې، دسیسي او تقلب لامل شول. جعلي مهرونو او دتقلبي اسنادو ډېر خلك تباه کړل. د یو وګړي په هکله د تهمت یا د یو چا تورن کول په لاندنیو جملو سره ود:

«د پلاني سړي پیسې ورسره دي»، «د دولت له پلاني باغي سره اړیکې لري»، «د پلاني سړي په وژلو کې لاس لري»، «د امیر د پلاني سیال (د شیرعلي خان کورنۍ) سره لیك او کتابت لري» او داسې نور... تورونه.

د انګرېزانو په لاس یو رالېږل شوي شورشي سعدوی کروخېل یوه موده په پکتیا کې فعالیت وکړ او له ماتې خوړلو وروسته وتښتېد. یوه جاسوس، چې ملا احد بیدك خېل نومیده، د سعدو په نوم یو مهر جوړ کړ، هر چاته یې چې غوښتل د سعدو په نامه یې ورته جعلي لیکونه لیکل او هغه یې امیر ته رالېږل، په پایله کې ګڼ شمېر بېګناه خلك ووژل شول او په پای کې بیا په خپله دغه تقلب کوونکی جاسوس اعدام شو. د جاسوسي ددغې پراخې کړۍ شاته د کوتوالي (امنیه یاد پولیسو قوماندانی) او ژاندارم ویرونکې اداري هم وې، چې ویرونکي جیلونه یې لرل. د امیر نامتو کوتوالان دا وو: نایب میر سلطان خان، میرزا محمد حسین خان او مرزا عبدالرؤف خان (د کوتوال نایب)، چې یوازې د دوی د نوم یادولو خلك په ویره کې اچول.

رسمي تاریخ لیکوال فیض محمد ددغو دوو وروستیو کوتوالانو په هکله لیکي: "د میرزا محمد حسین خان د کابل د کوتوالي د سنجش د دفتر مشر او د هغه نایب مرزا عبدالرؤف خان مقرر شول او ددغو دوومهمو دندو له لامله په خلکو کې ډېره لویه ویره خوره شوه او دوی حیرانوونکي او ویرونکي کارونه وکړل پټ او ښکاره ډېر څه یې ترسره کړل.(١)"

خو نایب میر سلطان خان د افغانستان په ټولو ښارونو باندې ویره غوړولې وه او د هغه کوتوال په کندهار کې په رڼا ورځ د تورن سید دوست محمدشاه ښځې له کور څخه را بهر کړې او کوتوالي ته یې بوتلې او تر کراو لاندې یې راوستې. په پای کې د هغه ظلم او فساد یوه داسې برید پورې ورسېد، چې

١. سراج درېیم ټوك، ٨٣٢ مخ.

امیرعبدالرحمن خان د عامه اذهانو د بېرته سمون او له خپل ځان څخه یې د خلکو د کرکې د لرې کولو په خاطر نوموړی کوتوال په پغمان کې له یوې ونې څخه راځوړند کړ او خپله ملامتي یې د هغه په غاړه ور واچوله. دا هغه بېلګه وه، چې یو چاته دا احساس پیدا کېږي، چې ماکیاول د خپل (پرنس) د کتاب په لیکلو کې کوم نبوغ نه دی ښودلی، بلکې د یوې استبدادي دستګاه د ځانګړتیا انځور یې وړاندې کړی دی.

## جیلونه او د سزا ورکولو ډولونه

د ولایاتو او د پلازمینې له بېلا بېلو جیلونو پرته د کابل او هرات (سیاه چاه) توري ځاګانې، د کوندې ولچك، زولانه، غره بغرا، قین او پانه، تیل داغ، د لاس پښو پرې کول. بې خوبي ورکول، رندول، برچه پك، چانماري، غرغره، حلالول، سنګسار، توپ ته تړل، په ونو باندې پرې کول او نورو سزاګانو هیواد د ویرې او وحشت تر تور سیوري لاندې راوستی و. د بندیانو ساتونکو د خپلو بندیانو د ساتلو په برخه کې په بشپړ ډول آزادي لرله. د یوه وګړي جرم دده کورنۍ او ملګرو ته سرایت کولای شو. په کابل کې د ارګ کوتوالي شیرپور او د ښار دننه سرایونو له جیلونو څخه پرته یو شمېر نور ځانګړي زندانونه هم ور چې یو یې محمدنعیم خان (وروسته بیا نایب سالار) د امیر کپتان او بل یې (بابه برق) شاطر باشي پورې اړه لرله. د امیر شاطرباشي بابه برق په مرادخاني کې د خپل کور د دروازې مخې ته په یوه میداني کې یو دار هم درولی و، چې تورن به یې پکې ځړاوه. فیض محمد د دولت رسمي تاریخ لیکوال په دې هکله لیکي: "د حضرت والا (امیر) په امر دوه تنه تورن شاطر باشي بابه برق ته وسپارل شول، چې هغه دوی په هغه دار وځړول، چې د خاین وژنې او غلو د غرغره کولو او د سیاست دډګر خاینانو ته جوړ کړی و."(۱)

مرزا ګل محمد وردك د کندهار د نظام د دفتر مدیر په خپلو سوانحو کې په دې هکله لیکي: شاطرباشي بابه برق او د هغه تر لاس لاندې شاطران ټول چرسیان وو، امیر عبدالرحمن خان به ځینې بندیان دوی ته سپارل، چې قین او پانه یا تیلداغ یې کړي او اقرار ورڅخه واخلي. دوی به په یوه کوټه کې سل تنه بندیان اچول، چې یو پکې زه خپله وم، دا ځکه چې ما د احمدجان په نوم یوه تن ته دده د پلار له خوا د امیر حضور ته د هغه له بندځخه د خلاصولو په خاطر یوه عریضه لیکلې وه، خو کله چې هغه دربار ته عریضه وړاندې کړه، نو له ویرې څخه یې د عریضې له لیکلو څخه انکار وکړ، نو ځکه مونږ دواړه بندیان شولو. وروسته تر څو ورځو څخه مونږ د امیر دربار ته بوتلل شولو. زما د زنځیر او زولنو دروندوالی څو منه و. ژمی و، بندیان ټول ودرېدل تر څو چې امیر د شپې وزګار شو او مونږ ټول ور وړاندې شولو. په پیل کې د کوهدامنیانو د غلا فقره ولوستل شوه. امیر پرته له سوال او جواب څخه امر وکړ دوه تنه دې غرغره شي.

د څلورو تنو دې لاسونه پرې او د درې تنو دې غوږونه پرې شي او د دووتنو د سترګې وایستل شي. د درېو تنو دې نسونه ورڅېرې او په اوښانو دې بار شي او په بازارونو باندې دې وګرځول شي. وروسته

۱- سراج- دریېم ټوك. ۸۳۲ مخ

Scanned by CamScanner

دریمې د محمد کاظم بزاز هټۍ د غلو فقره ولوستل شوه، امیر امر وکړ، چې د کوتوالي مامور جلال الدین ارملازم ناصر دې پانسي شي او د پایان چوك د صاحبزاده ګانو سترګې دې په نشتر ړندې او چونه (ډبوره) دې پکې واچول شي، دا ځکه چې غلا شوی مال د دوی په کورونو کې وموندل شو. دکوتوالي مامور سید محمد دې ووژل شي او د هغه زوی احمد جان دې پرېښودل شي او د عریضې لیکونکی مرزا ګل محمد دې خپل خون په دوه زره روپیو پرې کړي که نه و دې وژل شي.(۱)

په ۱۸۹۴ کې یوه سرتېري د پریټ پر مهال خپله پښه غلطه کېښوده د قطعې قومندان عبدالمالك خان نورستاني (چې په ملك سفید یادېد) چې یو درباري او عصبي مزاجه ځوان وو، له امیر عبدالرحمن خان څخه په زده کولو سره یې دغه سرتېري ته د ناموس کنځلې وکړې. سرتېری له صف څخه ووت، قومندان یې په ګولۍ وویشت او له آس څخه یې ښکته راوغورځاوه کله یې چې دغه سرتېری د امیر دربار ته ور وست ویې ویل، چې قومندان ماته کنځلې وکړې او ما هغه مړ کړ، بل کوم علت نشته. امیر امر وکړ، چې دغه سرتېری دې د فرقې له جنرال رستم خان سره یو ځای شکنجې لاندې ونیول شي تر څو، چې اعتراف وکړي. سرتېری د کوتوالي په جاده کې یوې ونې پورې وتړل شو او درې شپې او درې ورځې ډول ډول شکنجې ورکړل شوې، په دې سزاګانو کې یوه سزا دا وه. چې د هغه پر سر باندې به یې د اوړو یوه حلقه راچاپیره او بیا به یې جوش غوړي دده پر سر باندې واچول. سرتیری به له هوښ څخه وتلی و، د ژوند نښه یې همدومره، چې کله کله به یې له وینو ډکې سترګې رڼې شوې او مچان او مچۍ به یې له سترګو والوتې او بیا به بېرته ورباندې راټولې شوې، تر څو چې له دغه کړاو څخه خلاص او مړ شو. خو جنرال رستم یو هډور، پیاوړي او زړور سړی و، چې ډېرې لږ خبرې یې کولې او په چټو آسونو به سپورو، په خپلو ایره جامو باندې به یې زري ملا وستنې تاړه او توره به یې ورباندې ځوړندوله. هغه چمتو و، چې د امیر په یوه حکم یو بشپړ ښار له خاورو سره خاورې کړي، خو اوس هغه لکه د یو سپي په شان د کوتوالي تر ګومبذې لاندې په زنځیر باندې تړل شوی و او ټولو خلکو ورته کتل. په شا باندې یې ورته یوه ټوکرۍ تړلې وه، له هغې څخه یې اوبه، مالګه او ډوډۍ ورکوله او په برچې سره یې ویښ ساته او خوب ته یې نه پرېښود تر څو، چې د جنرال سترګې پټې شوې ځومره یې، چې د هغه په ملا او تشي برچه ننه ایستله، سترګې یې بېرته نه شوې، فیض محمد په دې هکله لیکلي چې:

"جنرال رستم خان یې د حضرت والا (امیر) په امر له هغې ټوکرۍ سره، چې په هغې کې نیمه د اوړو اونیمه د مالګې ډوډۍ وه، هره ورځ به یې د ارګ له جېل څخه بهر راوست او ارګ ته نږدې بازار کې د نغاره خانې ګومبذې لاندې به یې د خلکو د لویې لارې تر څنګ په زنځیر باندې وتاړه او هغه وسپنیز میخ به یې په ځمکه تك واهه، چې د هغه ټوپك سیخ و، چې عبدالملك ورباندې ویشتل شوی و او بیا به یې په همدې میخ د میوکي په شان وتاړه او زنځیر به یې په غاړه کې له سهاره تر ماښامه به هلته و او د شپې به یې بېرته د ارګ زندان ته بیوه تر څو چې مړ شو."(۲)

۱. د مرزا ګل د سوانحو خطي نسخه، په کابل کې د هغه د خوریي مرزا سید داود له کتابتون څخه.
۲. سراج دریم ټوك ۹۴۴ مخ.

Scanned by CamScanner

د استنطاق او شکنجې دغه سیستم تورن دومره ویرولي وو، چې ګناه به یې نه وه کړې، خو ډېر ژر به یې اعتراف کاوه، تر څو پرته له شکنجې په آسانۍ په یو ځل ووژل شي. کوتوالانو او زندانوانانو به هر څه، چې خپله غوښتل هغه به یې په تورنو اعتراف کاوه او هر هغه څوك به یې، چې غوښتل په جرم کې د شریك په توګه ورګډول په دې توګه به وچ او لامده ګډ سوځېدل. سیداحمدخان د کابل د نظام د دفتر لیکوال په خپلو یادښتونو کې لیکي:

د افغانستان امین نظام مرزا عبدالحکیم خان، چې د کوتوال مرزا محمد حسین او مرزا عبدالرؤف نایب کوتوال سیال و او دښمني یې ورسره پیل کړې وه، د تیرج (هغه دفتر ته ویل کېدل، چې په هغه کې به د مصارفو د سنجش باطله یا مسوده لیکل کېدله او وروسته تر سمون څخه به په رسمي کتاب کې په ثابت شکل قید او ثبت کېدل) په سوځولو تورن شو. دغه تیرج کوم رسمي ارزښت نه درلود، چې د کابل نظامي قطعاتو ته د ورکړل شوي معاش یوه مسوده وه، خو کله چې میرزا عبدالحکیم تورن شو، نو د سختو شکنجو له ویرې یې مستنطیقینو ته وویل: زه ستاسې د شکنجې او ځورولو وس نه لرم هر څه چې تاسې وایاست په همغو اعتراف کوم. نو مرزا محمدحسین خان کوتوال ورته وویل، چې ډېره آسانه لاره داده، چې ولیکي تهرج ما سوځولی دی. امین نظام همداسې ولیکل په سبا باندې یې د توپ خولې ته وتړل شو او ټوټه ټوټه شو او کورنۍ یې ټوله مصادره شوه.(۱)

همدغه ښاغلي سید احمد خان، چې څه موده په ارګ کې بندي و او شتمني یې ټوله مصادره شوه، په خپله به یې کیسه کوله، چې د روژې په میاشت کې به بندیان د خپلو کوټو د دروازې خوله کې روژه ماتې ته په تمه ناست وو، یو ناڅاپه به د ارګ جلاد، چې خلکوورته (دیوانه) وایه رابه غی او زمونږ مخې ته به کښېناست او له خپلې ملا څخه به یې د سرې وژلو چاړه راکښله او په یوه تیره به یې تیره کوله او بندیانو ته به یې کتل، چړې ته به یې اشاره وکړه او ویل به یې دغه بې پیره چاړه بیا مستې کوي، وبه ګورو چې نن شپه د کوم اجل نیولي وینه یې په نصیب ده، سبا به مونږ خبر شولو، چې د شپې یو بندي حلال شوی دی، دا ځکه چې دا معموله خبره وه، چې د شپې له خوا به څوك د ټوپك او توپ په ډز نه وژل کېدل.

د امیرعبدالرحمن خان له شکنجې څخه وېره دومره حد ته ورسېدله. چې د فیض محمد په وینا، چې یو لوړ پوړي سرې سپه سالار غلام حیدرخان توخي همدا، چې واورېدل، ۳۸ زره روپۍ باقیدار قلمرداد شوی دی، دده پلار (امیر محمدحسین خان سرشته دار) یې بندي کړی دی، د تومانچې په ګولۍ یې ځان ووژه. خلکو د (شش کلاه) او (نام ګیرك) له نومونو ډېره کرکه کوله. په تېره بیا په پلازمېنه کابل کې دا ډېر بدنومونه وو. شش کلاه د تورنو د شتمنۍ د ټاکلو او مالي چارو د محاسباتو او سنجش د هغې اداري یو تشکیل و، چې سر رشته دار یې مرزا محمد حسین کوتوال او غړي یې نایب کوتوال مرزا عبدالرؤف، مرزا محمد قاسم خان روزنامچه، میرزا سید محمود خان کندهاري، مرزا شیرعلي خان او مرزا غلام حسن خان وو، دوی عبدالرحمن خان ته د خدمت او خوشامند لپاره ډېر بېګناه خلك او ډېرې

---

۱- د سید احمدخان د ناښپړو یادښتونو خطي نسخه، چې د هغه د زوی ښاغلي میر محمدشاه خان صدیقیان په کتابتون کې ..

کورنۍ د باقي مانده او د محاسباتو د غلطۍ په تور برباد کړل. نام ګیرک یو ډول پټ رسمي ترور و، چې بو ځه موده د ښار د کوتوال له خوا په کابل کې (د امیر په امر او د امیر په نوم) عملي شو، په نیمه شپه کې به د پام وړ سړي کور وتکول شو، را وبه غوښتل شو، بیا به د دغه سړي مړی- ژوندی نه و معلوم. د هغه کورنۍ به له ویرې غږ نشو پورته کولای، دا ځکه چې هغه مهال پرته د کوتوالي له مامورینو څخه چې د شپې نوم به یې درلود، بل څوك د شپې له خوا په ښار کې نشو ګرځېدلای. د امیر عبدالرحمن خان سزا ورکولو او جاسوسي او نظامي ادارې د خلکو په روح او روان ډېره بده اغېزه کړې وه او د خلکو ملي استعداد، زړورتیا وړتیا او یې زیانمن کړل. خلکو هغه ته د (ظالم پاچا) نوم ورکړ، یو ځل یې مزار کې په ګولۍ وویشت خوونه لګیده، امیر چې د کورنیو او بهرنیو دندو او جاسوسي چارو منځ کې راګیر و او د نقرس په ناروغۍ هم اخته و، نو ځکه یې د جرمي فقرو د پوره څېړلو وخت نه درلود. زیاتره به یې په پټو سترګو فیصله کوله او امر به صادر شو، په حقیقت کې امیر یواځې مدیر و، نه یې د باور وړ کابینه لرله او نه یې کومه مشورتي غونډه لرله، نو په دې توګه د هېواد د ادارې لپاره یو غیر مسئول شخص ته براخینې لاره همدا د تورې تر سیورې لاندې دیکتاتورې او دایمي ویره خوروله وو. کله چې امیر وړ په هغه ورځ د کابل په جیلونو کې ۱۲ زره نارینه او اته زره ښځینه بېګناه بندیان پراته وو، چې دا د نوموړې د ادارې یو یادګار و. دغه شمېره د هغه مهال د نفوس انډول یو ډېر لوړ رقم و.

د دولت له مامورینو سره د امیرعبدالرحمن خان د سپك وضعیت او د مناسباتو یوه بېلګه د پې امیر د یو لاس کښلي سند او د پلازمینې د یوه مامور له غوړه مالي څخه ډك لیك څخه ښکاري: کله چې امیر د کابل د دفترونو پر ماموریتونو باندې په غوسه شو او امر یې وکړ، چې د دفترونو او د مامورینو د حاضرې ورځنۍ کار دې له لمر خاته څخه تر لمر پرېوتو پورې وي او سرغړوونکي مجازات کېږي. نو دغه امر تطبیق شو، په دې سره د مامورینو په سر د ژوند ډګر تنګ شو، نو عریضې یې ولیکلې، خو د دربار ګومارل شویو مامورینو دا جرئت نه درلود، چې هغه د امیر حضور ته وړاندې کړي، آخر په کابل کې د امیر د زوی سردار محمدعمر خان د ختنه سورې جشن و، چې د کابل د ۵۲ ادارو سر رشته دارانو یوه عریضه ولیکله او د سردار عمر د مور ملکې بوبوجان په لاس یې امیر ته واستوله. دلته د دغه عریضې نقل او د امیر ځواب راوړو:

ژباړه: له علیما جناب مقدسه معظمه مکرمه محترمې محذرې څخه ځار شو:

د دفترونو لیکونکي ستاسې مبارك حضور ته عرض رسوي، چې د حضرت ضیاء الملته والدین د قوي شوکت دولت تر سیورې لاندې د نړۍ د هستوونکي د لوی ذات له عنایاتونو څخه په هوساینه کې ژوند کوو، شپه او ورځ د خپل ولینعمت د سلطنت د پاینښت او د عمر د اوږدوالي دعا کوو او خدمتګارې کوو. خو دا، چې د حاضرې د قید له لامله مونږ ټول په خپل مرګ راضي یاستو او څو ځله مو د حاضرې د کښښت په هکله د عدالت بخښونکي حضور ته عریضې استولي دي، خو له دې لامله، چې د حضور لیکونکو (مامورینو دا زړه نه دی کړی، چې عریضه له پیل څخه تر پای پورې د مبارك حضور ته ولولي او د هغوی لومړی نظر څخه یې تیره کړي، نو ځکه سرکار والا د خپلو غلامانو او خدمتګارانو

Scanned by CamScanner

په دې توګه په دې ورځو کې موږ پوره څوارلس ساعتونه په دفترونو کې ناست غمخوري ونه فرمايله، په دې توګه په دې ورځو کې موږ پوره څوارلس ساعتونه په دفترونو کې ناست ياستو، ليکنې کوو، ټول ناروغه شوي يو او له ژوند څخه بيزاره ياستو، نو اړ شولو، چې د حضرت شهريار خدمت ته عريضه وليکو، څرنګه چې حضرت مهدعليا لکه د خپلې مهربانه مور او زړه سواندې غمخورۍ په توګه ګټو هيله لرو، چې مرحمت وفرمايي او په يوه نيکمرغه ساعت کې او له اختر څخه دم په بختوره ورځ، خو لنډ وخت کې نه اوږده موده کې د خپلو غلامانو عريضه د حضرت ظل الهي له مبارك نظر څخه تېوله ورتېره او د خپلو غلامانو د حال مربي وګرځي او زمونږ په حاضري کې لږ کمښت راوستل شي او له پخوا څخه لا زياتې دعاګانې د خپل ولينعمت د سلطنت د بقا او د عمر اوږدوالي او د مهد عليا جنابې د عزت او جلال والا شان او شهزاده سردار محمدعمر جان نيکمرغه سردار د نيکمرغۍ هيله لرو او د هغه خدمتګاري ته اقدام وکړو. پاتې دې نړۍ ستاسې په برخه او فلك دې تاسو مل او خداى پاك دې ساتندوى اوسه."

په دغې عريضه کې ۵۲ تنو د دفترونو مشرانو او سر رشته دارو لاسليکونه او مهر کړي و، چې په لاندې توګه يې خپل نومونه ليکلي وو: پرورديده نعمت غلام قديمي عبدالعلي، کمترين غلامان محمد امين، غلام فدوى، مرزا عطامحمد، کمينه غلام احمد علي، کمترين غلام جان نثار محمد رضا هراتي نظامي، حقير فقير محمدحسين نظامي، غلام نمك پرورده مرزا شاه پسند، خادم دولت خداداد نهال چند..." او داسې نور نومونه. امير عبدالرحمن ددغې عريضې په څنډه په خپله داسې وليکل:

*"بر پدر همه شما ............ مرزاهائيکه در اين کاغذ مهر و دست خط کرديده ايد لعنت و بر شما ها هزار لعنت بر هر کدام شما باد. به برکت ارواح پاکان درگاه خداوند دل شما ها هرگز کار نميخاهد (نميخواهد) همه شما مردار و پدر ازار و مادر ازار استيد. تمام مرداری دفتر ها از شمايان است فقط امير عبدالرحمن به قلم خد (خود) نوشتم فقط"* (۱)

ژباړه: ستاسې ټولو هغه مرزايانو پر پلار دې لعنت وي، چې په دغه کاغذ کې مو مهر او لاسليك کړي دي، د پاکانو د اروا په برکت او د خداى په درګاه کې پر تاسې هم زر ځله لعنت وي په هر يوه باندې. ستاسې زړه هېڅکله کار کول نه غواړي، تاسې ټول مردار ياست او پدر آزار او مادر آزار ياست. د دفترونو ټوله ناولتيا ستاسې له لاسه ده. فقط امير عبدالرحمن خان په خپل قلم مې وليکل، فقط.

امير عبدالرحمن خان خلکو سره ډېره راشه درشه لرله او له حرم څخه لرې و. هغه شپه او ورځ د نارينه وو په چاپيريال کې اوسېده، ملي لوبې او سپورتونه يې کتل او صنعتګران يې هڅول. د خلکو عرض ته يې غوږ نيو او د هېواد په ټولو ښارونو کې يې کولپ شوي صندوقونه کېښودل، چې تر څو هر څوك هر څه چې يې زړه غواړي وليکي او پکې واچوي. په کابل کې به دوه ځلې صندوقونه پرانيستل کېدل او کاغذونه يې امير ته وړاندې کېدل. ددغو صندوقونو کونجي په دربار کې له ميراحمدشاه خان سره وې، امير کومه ورځپانه نه درلوده، نو ځکه يې خپل ټول مقررات د چاپي اعلانونو په واسطه خلکو ته رسول.

---

۱- ددغې عريضې اصل او د امير لاس کښلي خواب د مرزا سيد داودخان اړوند، د هغه مهال تاريخي اسنادو په دوسيه کې شته.

Scanned by CamScanner

لکه د امیر شیرعلي خان د دورې په شان بې محصله مقرر کړل فقط باقیات یې د مالیاتو راټولول یې
د مالیاتو راټولول. د (مرات العقول) رساله یې تالیف او خپره کړه، چې موخه یې د مالیاتو
مامل (محصل) په لاس راټولول. د (مرات العقول) رساله یې تالیف او خپره کړه، چې موخه یې د مالیاتو
د سپارلو په برخه کې د مذهب له پلوه د خلکو پاملرنه کول و. نوموړې د چارواکو له خوا هغه شخصي
لګښت اخیستل منع کړل، چې له خلکو څخه به یې اخیستل او اعلان یې وکړ. چې خلك باید پرته د
دولت له ټاکلو مالیاتو څخه هېڅ مامور ته پیسې او جنس ورنه کړي. که چا دوی ته کوم سوغات
ورکاوه، نو اړ کېدل، چې نقد او جنس ټول د دولت خزانې ته ورکړي. د مامورینو څارنه کېده او که به یې
څښتني ډېره شوه، هغه به ورڅخه اخیستل کېده. د تیرې کوونکي مامور په هکله یې د سیمې له خلکو
پوښتنه کوله او د خلکو د شکایت په صورت کې سزا ورکول کېده. دغه سزا ورکول به څینې وخت د
خلکو تر مخې د کابل چوك کې عملي کېده. له دې څخه پرته امیر عبدالرحمن خان د ژمنلیك اداره جوړه
کړه چې هر مامور باید خلکو او دولت ته د نه خیانت کولو ژمنه وکړي د سر غړونې په صورت کې به له
منځه وړل کېږي. امیر د کندهار د خرقې بست هم له منحه یووړ، څکه چې هغه د مجرمینو په پناه ځای
بدل شوی و او د هغه پناهنده محمد یوسف خان تیموري، چې د سردار عبدالله خان ورور و ړوند کړل
شو. په دغه دوره کې عمومي امنیت ټینګ و. په بازار کې رزمي قصه ویونکي او په جوماتونو کې د
دیني جهاد مبلغان فعال و، بلې خوا د خلکو، پیشه ورو او صنعتګرانو میلي جارې وې او د هغوی په
جشن کې به ساز او سرود او ګډا هم کېده. په پلازمینه کابل کې (خرابات) کوڅه د ساز او آواز مرکز او د
نڅاګرو ځای و. په ځانګړو میدانونو کې چوب بازي پهلواني او غیږ نیول، قچ جنګي او چرګان جنګول
دود و، همداسې هم اس څغلول د توري وهلو لوبه او ساندې ویشتل پېژندل شوې لوبې وې. د امیر
کورنۍ (پرته له سردار حبیب الله خان څخه، چې نظامي چارو کې یې لاس درلودلای شو او سردار
نصرالله خان په مالي چارو کې لاس درلودای شو) د هېواد په حکومتي چارو کې د مداخلې حق نه درلود.
د امیر هېڅ یو زوی د هېواد دننه یا بهر تاجر او پانګوال نه و. دوی ټول فقط د دولت په معاش او د
اعزازي رتبو په لرلو سره ژوند کاوه. د هېواد دننه امیر سیاست بېخي روښانه او څرګند و، یعنې دده بې
قیده او شرطه اطاعت غوښت او مخالفین یې د تورې په زور ځپل.

## د ملي لاربښوونکو په وړاندې د امیر چلند

د امیر عبدالرحمن خان له پاچا کېدو سره سم د انګرېز په وړاندې د ملي مبارزینو ټولو مشرانو ورته
اطاعت څرګند کړ، خو یوازې سردار محمد ایوب خان، چې په میوند کې یې انګرېزانو ته ماتې ورکړې
وه او اوس یې انګرېزان په کندهار کې کلابندۍ لاندې راوستي وو، کله یې چې له انګرېزانو سره د
عبدالرحمن خان جوړ جاړی ولید، نو د نورو جهادي رهبرانو د عبدالرحمن خان په پرتله سردار محمد
ایوب خان ته زیات شو او خپله امیر عبدالرحمن خان تر هر چا مخکې په دې خبره باندې ډېر ښه
وپوهېده، څکه مخکې له دې چې له سردار سره د افغانستان د تاج او تخت دعوا فیصله کړي دا یې
وپتېیله، چې تر هر کار مخکې لکه د امیر دوست محمد خان په شان لومړی د ملي مبارزینو د

Scanned by CamScanner

سرښندوونکو مشرانو خبره یوې خوا ته کړې، دا ځکه چې همدوی د افغانستان د خلکو ریښتیاني استازي او د ولس د درناوي وړ خلك وو له بلې خوا دغه ملي مشران په سیاست کې مهم خواك ګڼل کېدل، نو ځکه امیر په یوه ناڅاپي برید سره هغه ملي اتلان، چې کابل کې ده ته نږدې وو، لکه جنرال محمدجان خان غازي وردکی، د هغه ورور محمد افضل خان. عصمت الله خان جبارخېل، بهرام خان جبارخېل او ځو نور بندیان کړل او په غلطه یې آوازه واچوله، چې جنرال محمد جانخان د انګرېزانو په سپارښت د افغانستان سپه سالاري غوښتله او نورو یو بل سره ژمنه کړې وه، چې ما کندهار ته د سفر په لاره کې ووژني. دا د انګرېزانو یو عام او معمولي روش و. چې په هر ځای کې به یې پتمن، نجیباو درانه مبارزین په زور او جبر پروپاګنډو او اسنادو او ناوړه تورونو باندې په خلکو کې بد معرفي کړل او بیا به یې ښخي له منځه وړل. امیر عبدالرحمن خان هم کټ مټ د افغانستان د ملي رهبرانو په هکله د انګرېزانو له همدغه سیاست ځخه کار واخیست.

امیر جنرال محمدجانخان په پټه د ۲۰۰ سپرو سرتېرو په لاس مزار ته د تبعید کولو په نوم واستاوه او بیا یې د ۲۰۰ نورو سپرو په لاس. چې هغوی دغه ځوانمرده ننګیالی نه پېژاند. د مزار له ښار څخه یو پړاو لرې اعدام کړ. عصمت الله خان د امیر په جیل کې ومړ او د هغه ورور ارسلا خان د امیر په لاس اعدام شو. همدا رنګه امیر دوه نور ملي رهبران هر یو محمد افضل خان او محمد موسی خان ساپی، ځکه په وحشیانه ډول سنګسار کړل، چې ګوا کې د امیر محمد یعقوب خان له مور سره یې لیکونه لېږل رالېږل او د بیني حصار د چمن په شکار ګاه کې یې د امیر د وژلو ژمنه کړې وه، نورو رهبرانو، چې دا حال ولید یو یو وتښتیدل. نامتو میر بچه خان لومړی ننګرهار ته ولاړ او بیا له هغه ځایه ایران ته ولاړ او له سردار محمد ایوب خان سره یې لاس یو کړ. چې پر افغانستان یرغل وکړي کله چې ناکام شو هند ته ولاړ، بیا نو هغه وخت راستون شو، چې امیر مړ شو او دلته د خپل مرګ تر وخته و اوسېده او په خپل اصلي ټاټوبي بابه قشقار کې خاورو ته وسپارل شو. د کوهدامن او کوهستان نور ننګیالي د انقلاب اصلي مخکښان هندوستان ته وتښتیدل او نور انقلابیون لکه جلندر خان. غلام محمدخان، برزو خان، تتمدره یي، میر درویش خان بابه قشقاري، محمد عظیم خان. عبدالسمیع خان. فتح محمد خان بایاني او عبدالغیاث خان جلالزی هم وتښتیدل. امیر عبدالرحمن خان په ۸۹۱ کې د دوی ښځې، زامن او لور ګانې. چې ۳۹ تنه کېدل هم هندوستان ته ورفرار کړل. همدا رنګه محمدشاه خان غلجي او پیردوست خان احمدزي وروسته تر یو ځو بې نتیجې فعالیتونو څخه، چې ختیزو ولایتونو کې یې وکړل، کُرمې ته ولاړل همدا رنګه د نورو ۷ تنو ملي مبارزینو، چې له سردار محمد ایوب خان سره یې د امیر د واکمنی سیمه پرېښې وه. د هغوی ټولو کورنۍ د امیر د غوسې وړ وګرځېدې. هغه یې ټول په ۱۸۸۹ کال کې یې ضبط او مصادره کړې، د کابل یو شمېر کورنۍ هم په همدې نامه د امیر د کوټوال نایب میر سلطان په لاس برباد شوې.

ملا دین محمد مشك عالم اندړ، چې د جنرال محمدجانخان له وژل کېدو وروسته د خلکو په منځ کې ژوند کاوه. د هغو اتلولیو په وړاندې، چې د انګرېزانو په وړاندې یې کړې وې. د امیر عبدالرحمن له

خوا ورته (د (موش عالم)نوم ورکړل شو. کله چې د جهاد د مشرانو په وړاندې د امیر د فشار له لامله د خلکو غبرګون ډېر زیات شو، نو امیر هڅه وکړه چې خلك بېرته خوښ او پخلا کړي. په ۱۸۸۴ کې د امیر په حکم د غزني حاکم سردار محمد حسن د اندړو ټول مشران راټول کړل، چې په هغو کې مشك عالم ته هم بلنه ورکړل شوه او په یوه لویه غونډه کې د دولت په استازیتوب له هغوی بخښنه وغوښته. خو مشك عالم په دغه غونډه کې ګډون ونه کړ. د امیر په فرمان د پکتیا د والي سردار شرینډل خان ورور، د پکتیا له کوټوال محب علي خان او یوه دیني عالم ملا عزیزخان سره یو ځای مشك عالم ته ورغلل او خبرې یې ورته وکړې. مشك عالم سردار ته داسې ووېل:

"درې زره هغه افغاني مشران، چې د انګلیس د دولت د واکمنۍ پر مهال یې د هېواد ساتنه کړې پرته له کوم خیانت او خطا او بې له کوم خباثت څخه تر کړاو لاندې راغلل. حال دا چې هغوی د اسلام او هېواد د ناموس ساتنه کړې وه، یو شمېر یې نن د کابل په زندانونو کې بندیان دي او له ناهیلیو سره مخامخ شوي دي، په دې توګه ټولو خلکو چې په دې کې یو زه هم یم، ځان له ګواښ او ویرې سره مخامخ ګڼلی دی."[1]

کله، چې امیر د مشك عالم دغه ځواب واورېد، نو د مشك عالم او نورو خلکو په نوم یې یو فرمان واستاوه، چې پکې ویل شوي وو: "د افغانستان ټول خلك په عمومي توګه او اندړ په ځانګړې ډول د شریعت پیرو او د سلطنت د خیرخواهانو په توګه ګڼم، د هېچا په خرابۍ خوښ نه یم او د احمدخان (احمدخان غلجي) مخالفانه حرکت د ټولو خلکو د ملامتولو لامل نه ګرځوم، هغه مالیه نه ورکوله. دا چې ملا دین محمد خان مشك عالم د درې زره تنو بندیانو خبره کوي، د واقعیت خلاف خبره ده. دا څکه چې زیاتره بندیان د خدای او شریعت له حکم سره سم بندیان شوي دي. د بېلګې په توګه عصمت الله او یو شمېر نور فتنه پاخوونکي خلك د پخو اسنادو له مخې بندیان شوي دي. د خبرې مسؤولیت به په خپله د همدې ملا او بهانه لټوونکي خلکو په غاړه وي. آیا خدای او رسول په دې باندې راضي دی، چې یوه امیر ته د خلکو له بیعت کولو څخه وروسته ځو تنه جاهلان پاڅېږي او په هېواد کې فتنه جوړه کړي؟ په خپله انصاف وکړئ، چې هېواد ته د راتګ له ورځې چې د هېچا مال او ملك ته سترګې نه دي نیولي او د تخفیف په توګه مې زرګونه روپۍ رعیت ته وبخښلې او د علماوو په دندو مې دومره زیاتوالی را وستی، چې پخوا یې ساري نه و. زمونږ هلې ځلې د هېواد ترقي او د شریعت لپاره دي، مسلماني بنځې ځومره پټې شوي دي او غلو او فاسقانو بد کارونه پرېښي دي، په ټول هېواد کې ځوك د سیاست له ویرې د یو خلاف عمل د ترسره کولو زړه نشي کولای. شرعي مجازات د علماوو په فتوا او دولتي جنایتونو په عقوبت او یا په ساویا عفو او مواسا عملي کېږي. عرض او داد ته غوږ نیسو. د بېلګې په توګه مونږ د کندهار حکمران سردار عبدالرسول خان د رشوت د اخیستو له لامله له دندې لرې او ډېرې پیسې مو ورڅخه واخیستې او رعیت ته مو بېرته ورکړې. مونږ د الهي امانت په ساتلو کې، چې د سلطنت بار دی هڅه کوو او د رعیت د ناموس او عرض پالنه کوو او زحمت ځانته راحت بولو. هر هغه

۱. سراج التواریخ، دریم ټوك، ۴۰۸ مخ

ځوك، چې دولت او ملت ته بد خواه وي د لوی خدای د غضب وړ دی او د کتاب له حکم سره سم دده سرې وینه او مال حلال دي.

په هر حال، مشك عالم دوه کاله وروسته په ۱۸۸۲م. کال (د ۱۳۰۳ د ربیع الاول په لسمه نېټه) وفات شو او د هغه زوی عبدالکریم د امیر عبدالرحمن خان په ضد د خلکو لاربښوونه په غاړه واخیسته او پاڅون یې وکړ. امیر د جنرال غلام حیدرخان لنډي تر مشرۍ لاندې لښکر ور واستاوه او د جګړې په ترڅ کې جنرال بریالی شو. او د امیر په حکم د اندړو د زرو تنو وژل شویو له سرونو څخه ځلی په کابل کې جوړ شو او د اندړو له هرې کورنۍ څخه یو ټوپك او یوه توره په زور واخیستل شوه. د دیرش تنو اندړو ملایانو مستمرې د هغوی د مقررۍ له ورځې څخه تر دې مهاله پورې بېرته واخیستل شوه، د پاڅون کوونکو اندړو، لواڼیانو او خروټو ځمکې په قره باغ کې ضبط او هزاره ځمکوالو ته ورکړل شوې. امر یې وکړ، چې په راتلونکي کې به د غزني د اندړو او تاجکانو غله د نورو خلکو په پرتله په داسې بیه پېرودل کېږي، چې د هرې روپۍ په وړاندې به نیم چارك زیاته غله ورکوي، د هر اندړ بندي په سر به زر روپۍ او له شتمنیو څخه به له دې هم زیاتې پیسې اخیستل کېږي. په دې توګه د افغان، انګلیس د نورو باتورو مبارزینو په لړ کې د مشك عالم داستان هم پای ته ورسول شو او مبارز او ننګیالي اندړ بې وسلې کړل شول. یوا ځینی ځوك، چې روغ رمټ پاتې شو غلام حیدرخان و، چې په سپه سالار چرخي باندې مشهور و. یو بل تن میر غلام قادرجان او پیاني ته هم امیر لومړی څه ونه ویل او یو سیمه ییز حکومت یې ورته وسپاره. خو هغه ته ډېر ژر د خپل ملازم په لاس زهر ورکړل شو وروسته یې بیا زوی میر عبدالقیوم د خپل پلار قاتل وواژه.

ددې ټولو پر ځای امیر عبدالرحمن خان هغو سردارانو ته، چې د دښمن په لیکو کې ولاړ وو او د افغانستان د ولس په وړاندې یې توره راا خیستې وه او دا مهال یې په هندوستان کې د انګرېزانو تر بیرغ لاندې ژوند کاوه، راوغوښتل شول او د امیر د پاملرنې وړ وګرځېدل. په دې ډله کې یو یې د سردار شیرعلي خان زوی سردار نورعلي خان و، چې کندهار یې انګرېزانو ته تسلیم کړی و، چې لکه د خپل پلار په شان یې په کراچۍ کې د انګرېزانو په جیره شخوند واهه او په افغانستان کې د تفرج فکر یې سرته ورغی، حال دا چې په کراچۍ کې پور وړی و، هغه د بېوزلۍ له لامله سفر نشو کولای، نوځکه امیر عبدالرحمن خان مامورینو ته امر وکړ، چې د دولت له پیسو څخه دې پور ورکړل شي او د هغه پورونه دې کراچۍ کې ادا شي او د سفر لګښت دې هم ورکړل شي. په دې توګه دغه سردار د چمن تر پولو راورسېد او د امیر په حکم د افغانستان مامورینو ورته هر کلی ووایه. کله چې هغه کندهار ته راورسېد امیر ۱۲ زره روپۍ نورې هم ورکړې او بیا یې کابل ته راوغوښت، تر څو په پلازمېنه کې استراحت وکړي. امیر عبدالرحمن خان په خپلوي پالنه کې ډېر کمزوری صفت درلود، یعنې خپلوي پالنه یې کوله او لکه د امیر دوست محمد خان او امیر شیرعلي خان په شان یې د هېواد لوړې ګټې له کورنۍ عاطفې څخه ځار کړې. د بېلګې په توګه د هېواد مهم ولایتونه یې د دوی په واك کې ورکړل، چې پایلې یې ښې نه وې. د امیر د تره زوی سردار محمد اسحق خان د بلخ والي و، چې د روسیې له دولت سره یې

جوړ جاړې وکړ او د امیر په ضد پاڅېد او زرګونه خلك په دې پاڅون کې ووژل شول. سردار نورمحمدخان د کندهار والي و، چې زوی یې سردار شیراحمدخان د انګرېزانو د تیري په مهال په کابل کې له جنرال رابرتس سره یو ځای شوی و او جاسوسي یې ورته کوله او د کابل یو شمېر وطنپال یې د انګرېزانو غچ اخیستونکو سزاګانو ته برابر کړل او په پای کې بیا له انګرېزي ځغلول شوي پوځ سره هندوستان ته وتښتید او همالته مړ شو(۱). د میمنې د والي سردار سلطان محمدخان زوی سردار محمد سرور خان دومره سپین ږیرې او بوډا و، چې دوو تنو به له تخرګ لاندې ونیو او راوست به یې او د حکومت په اداره کې به یې کښېناوه. کله چې د چارو د خرابي له لامله له دندې لرې شو او کابل ته ور وغوښتل شو، هغه دومره شتمني زېرمه کړې وه، چې امیر امر وکړ، چې د هغه ۲۵۸ آسونه، یو درمه پسونه او غواوې، ۱۳ اوښان او ۳۸ باره مالونه یې په مزار کې وپلورل شي(۲). په ننګرهار کې سردار شاه محمدخان د امیر یو بل والي و، چې هغه هم ډېر بوډا و او کوم کار یې نشو کولای. البته امیر یو تکړه اداره کوونکی و او د خپلو دغه ډول ټاکنو په نیمګړتیا باندې ډېر ښه پوهېده، خو د خپلوی عاطفې ورباندې اغېزه کوله. کله یې چې په ۱۸۹۱م. کې د سردار پیرمحمدخان زوی سردار محمد علي خان د کندهار والي په توګه مقرر کړ. نو نوموړې ووېل، چې د ولایت کلنی معاش (۸۳۳۰ روپۍ) دده د لګښتونو لپاره کفایت نه کوي، حال دا چې ده یو بل ځانګړې معاش هم درلود. نو امیر ورته په ځواب کې ووېل: د کندهار د حکومت معاش همدومره دی (هغه مهال د هرات د والي کلنی معاش لس زره روپۍ و) هر څوك، چې په دې دنده ګومارل کېږي همدومره معاش لري، دا چې هغه وایي چې دا معاش یې نه بس کېږي کندهار ته دې نه ځي، یو بل څوك چې د فضول خرچۍ او بزرګوارۍ دعوا نه کوي هغه به کندهار ته ولاړ شي او محمدزی دې نه وي، دا ځکه چې ددغه قوم لوی او وړ که پوه دي که ناپوه، که شتمن دي که بېوزله، غواړي هېواد وخوري او بې وسه رعیت وکړوي. دوی له هغه غرور څخه، چې لري یې ماړه نه شول اضافه طلبي کوي او قناعت نه کوي او د قوي والي له لامله ځان په سلطنت کې شریك ګڼي(۳).

امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۹۳ کال کې ټولو محمدزیو ته کلنی معاش مقرر کړ، چې پرته د رسمي دندو داجرا کولو له قید او شرط څخه هر نارینه ته ۴۰۰ روپۍ او هرې ښځې ته ۳۰۰ روپۍ ورکول کېدې. آن هغې محمدزیي ښځې ته، چې مېړه به یې محمدزی نه و هم دغه معاش ورکول کېده. په دغه مفته معاش کې نه یوازې دا، چې د سردار پاینده خان اولادونه بلکې د پاینده خان د ورونو (حاجي درویش خان او عبدالحبیب خان) اولادونه هم راتلل. نورو لویو سردارانو جلا معاشونه لرل(۴). امیر عبدالرحمن خان هغو سردارانو ته هم مستمرې معاش ورکاوه، چې په بهر کې اوسېدل. د بېلګې په توګه د امیرشیرعلي خان زوی سردار محمدابراهیم خان ته یې په کال کې ۴۸ زره روپۍ معاش ورکاوه، چې په هند کې اوسېد، په

۱- سراج، دریم توك ۴۹۲ مخ.
۲- سراج، دریم توك ۱۲۰ مخ.
۳- سراج، دویم توك ۷۱۹ مخ.
۴- سراج، دریم توك ۲۱۴ مخ.

Scanned by CamScanner

داسې حال کې چې په افغانستان کې د بیت المال د زرو روپیو لپاره یوه کورنۍ له منځه وړل کېده. په ۱۸۹۴ کال کې په کابل کې موجود و، نهه اویا تنو سردارانو امیر ته یوه عریضه کې ولیکل:

۱-زمونږ په مغزو کې د پاچاهي او رياست فکرونه نشته. یوازې د پاچا خوښي غواړو.

۲-د منصب تمه نه لرو، خو پاچا او د هغه کورنۍ ته د صداقت او خدمت هیله لرو.

۳- له دې کبله، چې انسانان یو او له تیروتنې تش نه یو، که مو څه خباثت کړی دی او زمونږ ورته پام نه وي. هیله ده پاچا مونږ ورته ځیر کړي. چې بیا هغه عمل تکرار نه کړو او هغه پرېږدو.

۴- د داسې یوه امر غوښتونکي یاستو، چې زمونږ په وړاندې مستند ځلور شیان څرګند کړي هغه دا چې:

"هغه چارواکي او مامورين، چې پرته له احمدزي قوم له نورو قومونو څخه د دولت په چارو کې ګومارل کېږي، نو باید د هغوی څارنه وشي او باید د هېواد هرې سیمې کې د خلکو او مامورینو د کړو وړو پوښتنه وشي او د مامورینو سجل باید د سلطنت د فترته را واستول شي یا به په خپله چارواکي د پاچا حضور ته حاضرېږي او څه پېښې کې. چې څه واقعیت تېر شوي وي هغه به ټول د والا حضرت حضور ته اورل کېږي او ددغو ذکر شویو پېښو په هکله، چې څه شی حضرت لازمه بولي هغه به اجرا شي."

امیر د دوی په ځواب کې په خپل قلم داسې ولیکل: "ددې عرض، ژمنې او معقولې استدعا او غوښتنې له مخې د څارنې د چارې او د سیمو او ولایتونو د ممیزې او علنۍ واقعه نګارۍ لپاره لکه څرنګه، چې ښایي ماموریت ورکړل شو. په دې ډله کې سردار فیض محمد خان او سردار محمد ناصر خان د ننګرهار ولایت ممیزان دي، سردار نظر محمد خان او سردار عبدالکریم خان د قطغن او بدخشان او نورو ولایتونو ممیزان شول.

خو ددې تر څنګ، چې امیر عبدالرحمن خان خپلو خانداني سردارانو او لاس لاندې تابع محمدزیو ته دومره پاملرنه لورېینه درلوده، هغه سردار به، چې له ده سره مخالفت وکړ، نو همدومره به یې هغه ککړ راته، آن دا چې یو څو تنه یې افغانستان څخه بهر تبعید کړل او له هېواد څخه یې وایستل، یو شمېر نور یې چې په بهر کې وو او افغانستان ته یې د بېرته راتګ هیله لرله رد کړل او ویې نه منل. لکه د طرزي کورنۍ، چې تبعید شول یا هم سردار محمد قاسم خان سردار محمد کریم خان سردار عبدالرزاق خان (د سردار محمد ایوب خان چې دوی د سردار عبدالرحیم خان زامن وو او په لیکلې توګه یې له هندوستان څخه افغانستان ته د بېرته راتګ غوښتنه کوله، خو امیر رد کړه او د عرض په ځواب کې یې دا بیت ولیك:

چـون گرسنه میشوید سگ میشوید
چون که گشتید سیر بدرگ میشوید(۱)

په ۱۸۹۲م کال کې د کابل سردارانو د محمدزیو له لوري یوه عریضه او ژمنه امیر عبدالرحمن خان ته وړاندې کړه او د سرو زرو په یوه ټیکلي یې د (ضیاء الملة والدین) لقب د لیك او د امیر یې په دغه لقب

---

۱- سراج، درېیم ټوك- ۸۴۲ مخ

ونوماوه. امیر د محمدزیو یو دغه لقب، غریضه او ژمنه طبع او د یوې اندازې سرو زرو او سپینو زرو له سکو سره یې د افغانستان ولایاتو کې وویشه او د زمري ۲۶مه یې هر کال «د ملت د اتفاق» د جشن په نوم د همدې لقب د اخیستو په ویاړ ونوموله. هغه دا امر هم وکړ. چې د دغه لقب د شکر په خاطر دې د افغانستان د ملت هغه وګړي، چې د ډېرې ځمکې لري هر یو یوه روپۍ او هغوی، چې لږ ځمکه لري یا یې نه لري نیمه روپۍ. د افغانستان اردو دې هر یوه یوه یا نیمه روپۍ. کوچني افسران دې له پنځو څخه تر لسو رپیو او لوی افسران دې له پنځوسو څخه تر سلو روپیو پورې د دولت خزانې ته وسپاري[1]. البته هغه سرداران، چې دغه لقب یې امیر ته ورکړی و د شکرانې له ورکولو څخه معاف شول.

## کورنۍ شخړې او اړ-دوړ

د عبدالرحمن خان له پاچا کېدو څخه وروسته کوم پاڅونونه او اړ-دوړ. چې د افغانستان دننه له سیاسي پلوه- د مالیاتو د زیاتېدو یا د امیر د ظلم په وړاندې د غبرګون په بڼه راڅرګند شول. نو امیر عبدالرحمن خان د هغو په وړاندې د زیاتو اشتهاراتو په کولو سره یو کلک نظامي سیاست لاس لاندې ونیو او هر پاڅون یې په هماغه سیمه کې ډېر کلک وځاپه. په دې هکله د هغه ډېر بد چلند دا و، چې د یوې سیمې د پاڅون د ټکولو په خاطر یې یواځې هغې سیمې ته د عسکرو په لېږدلو بس نه وایه. بلکې له بېلا بېلو سیمو څخه به یې سرتیري راټول کړل او په وسله وال ډول به یې د پاڅون کوونکو په وړاندې جنګول. په دې توګه هغه د افغانستان د بېلا بېلو قومونو تر منځ د هغه ماتولو او دښمنۍ تخم وشیند او ملي یووالي ته یې زیان اړاوه. امیر به د دغو ډول ځواکونو د جوړولو لپاره د منظم اردو په پرتله زیات معاش ورکاوه. امیر د دغه تشکیل په جوړولو او د دغه لګښت په ورکولو اړ نه و، دا ځکه چې هغه یو ډېر منظم او ځواکمن اردو درلود. چې هر ډول پاڅون یې ځپلی شو. خو غوښتل یې چې د دغه ډول تشکیل او سوقیاتو په ترسره کولو سره د سیمې پاڅون کوونکي د نورو سیمو له قومونو سره دښمنان کړي او له ملي یوالي څخه یې جلا کړي. له دې لامله چې دا ډول پاڅونونه ډېر پېښ شول، نو امیر د سیاست پایله په پراخه کچه د نفاق او دښمنۍ رامنځته کېدل شول.

امیر عبدالرحمن خان په هره سیمه کې ټول دوامدار شورشونه او پاڅونونه د ډېر زیات فشار او زور په واسطه غلي کړل، په هر ځای کې یې کلکې کلاوې ونړولې، خلک یې بې وسلې، څاروي یې لوټ، مقاومت کوونکي یې اعدام او آن ښځې یې هم بندیانې کړې. د بېلګې په توګه د پکتیا منګل او د چخانسور بلوڅان یې همداسې وټکول. د کروخېل، پنجشېریان، نجراویان، ځاځي، ځدراڼ، جمشیدیان. فیروزه کوهیان او د میمنې خلک یې ټول وځپل او ټولو دده د غوسې زهر وڅښل. خو په دغو ټولو پاڅونونو کې د کندهار، بلخ او هزاره جات پاڅونونو پراخ اړخ درلود. دا ځکه، چې دغه پاڅونونه یواځې یوې سیمې پورې نه وو تړلي، بلکې د هېواد ډېرو ولایتونو کې خپاره وو. د کورنیو

---

[1] سراج. دریم ټوک ۱۲۱۷ مخ.

جګړو د وروستي پړاو هغه مهال و، چې امیر نورستان ته پوځ واستاوه او په ۱۸۹۲ کې یې د هرات، جمشیدیانو پاڅون د غلجیو کوچیو پاڅون، د میمنې او فیروز کوه پاڅون او د چخانسور د بلوڅانو پاڅونونه یې وځپل، وروسته تر دغو پاڅونونو څخه تر ۱۹۰۱م پورې یعنې د امیر تر مرګ پورې کوم مهمه پېښه تر سترګو نه شوه.

## د کندهار، هرات او میمنې پاڅون

کله، چې امیر عبدالرحمن پر تخت کښېناست د هرات واکمن حاکم سردار محمدایوب خان، د خلکو د پاملرنې وړ وګرځید، ځکه چې انګرېزانو سره یې د امیر د جوړ جاړي او نرمښت ننښې ولیدې. خو خلکو سردار محمدایوب خان د انګرېزانو دښمن او د میوند د جګړې قاید باله. کله چې سردار په کندهار کې د جنرال رابرتس تر ناڅاپي برید لاندې راغی او هرات ته یې په شا تګ وکړ، نو بېرته یې پر کندهار باندې د راتګ لپاره ځان چمتو او خپل ځواکونه یې نوي کړل. دا انګرېزانو (د ۱۸۸۱ په اپریل کې) کندهار پرېښی و او د امیر عبدالرحمن خان مامورینو نیولی و. امیر شخصاً په خپله له یوه ځواکمن پوځ سره کندهار ته ورغی. هلته یې سردار عبدالقدوس خان د تاشقرخان حاکم تایمنې او د هرات فیروز کوه ته واستاوه، چې د سردار محمدایوب خان جبهې تر شا اړ-دوړ جوړ کړي. د امیر او سردار جګړه له کندهار ښار څخه بهر وشوه، وروسته تر یوې کلکې جګړې د هرات پوځ له ماتې سره مخامخ شو، نو ځکه سردار اړ شو، چې په شا تګ وکړي، خو دا وخت د هرات ښار پرته له کومې جګړې څخه سردار عبدالقدوس خان ته تسلیم شوی و، په دې توګه سردار محمد ایوب خان اړ شو، چې ایران ته وتښتي. جنرال فرامرز له خپلو زرو تنو جګیالیو سره پسې ورغی. د ایران پاچا نصرالدین هم انګرېزانو سره ژمنه وکړه، چې سردار ته به پر افغانستان باندې د یرغل کولو وخت نه ورکوي. امیر عبدالرحمن خان په ډېره آسانۍ هرات او کندهار ونیول او د کندهار د خرقې له بست څخه یې د دود - دستور برخلاف ملا عبدالرحیم او ملاعبدالاحد او پېنځه تنه نور وکښل او په خپل حضور کې یې اعدام کړل، خو دا مهال لا د سردار محمد ایوب خان هڅو پای نه وه موندلې. شپږ کاله وروسته په (۱۸۸۷) کې خلکو د میمنې د والي دلاور خان په مشرۍ او د هرات د پوځ د یوې برخې په ګډون، چې نایب سالار داود شاه خان یې مشرتوب کاوه د امیر عبدالرحمن خان د ظلمونو په وړاندې پاڅون وکړ او له سردار محمد ایوب خان څخه یې وغوښتل، چې هرات ته راشي. سردار په پټه له تهران څخه خراسان ته راغی او تر خواف پورې هم راغلی و، خو وخت له وخته تیر و، دا ځکه چې د هرات د لښکر ډېره برخه د دولت خوا ته دښتې وه او د داودشاه خان په ضد پاڅېدلي وو. دا مهال یو کورنی جنګ پېښ شو، نو سردار محمدایوب خان بېرته مشهد ته ستون شو. هلته د ایران دولت ونیو، بندي یې کړ او انګرېزانو ته یې وسپاره. داودشاه خان هم ماتې سره مخامخ شو، د تېښتې پر مهال ونیول شو او کابل ته راوستل شو. امیر هغه له دوو نورو ملګرو سره یې سنګسار کړ. د میمنې پر والي دلاور خان باندې د بلخ پوځیانو برید وکړ. له دې لامله، چې یوازې و، نو ځکه ورته تسلیم شو. دا وخت په ۱۸۸۲ کې ځاځیو او ځدرانو دولت ته له مالیې

ورکولو سرغړونه وکړه، خو د وسلې او پوځ په زور غلي شول. همدا رنګه سردار نورمحمد خان او سردار فیض محمد خان، چې له ختیزو پولو څخه د انګرېزانو په پیسو او ډېرو اعلانونو سره د پکتیا ولایت ته راغلل او خلك یې د دولت په ضد پاڅول او آن دا، چې د خوست ښار یې نیولی و، چې دوی هم د دولت له خوا د ځپل شول او تیرا ته په تېښته اړ شول.

## د بلخ پاڅون (۱۸۸۸)

سردار محمد اسحق خان د بلخ والي، چې د امیر د تره زوی او نږدې مرستندوی و، یو نرم او معتدل شخص و او خلکو ورڅخه هیلې درلودې، خو کله چې د امیر ظلمونه په افغانستان کې زیات شول، د سردار ورڅخه کرکه پیدا شوه، نو ځکه یې د پاچاهۍ د نیولو هڅه پیل کړه. نو د ټول ولایت هغه بزګران، مالداران، مامورین او افسران چې د امیر په ضد وو له سردار سره یو ځای شول. او د زړه له تل څخه ورسره ودرېدل، دا ځکه چې د امیر ظلمونو دنیا په سر اخیستې وه، په دې کې سردار یو نعمت ګڼل کېده، یعقوب علي، چې د سردار یو مامور و او دغه پېښې یې ټولې لیدلې لیکلې یې دي: د امیر د ظلم او ناروا خبرونو په ولایاتو کې، په تېره ملکي او نظامي مامورینو کې دومره ویره رامنځته کړې وه، چې که به چا ته هسې هم وویل شول، چې کابل ته یې غوښتی یې، نو له ویرې به مړ و. د بېلګې په توګه په یوه افسر همدا کانه وشوه او مړ شو. که به چېرې څوك کابل ته ولاړ، په مزار کې به یې وختې لا دعا او فاتحه اخیستل شوې وه.

ددې ډول شایعاتو او تبلیغاتو په رڼا کې د امیر یو څو فرمانونه را ورسېدل، چې یو شمېر مامورین او افسران یې د یو شمېر مهمو دندو د ترسره کولو په خاطر او وروسته یې بیا په خپله سردار د مشورې ورکولو په نوم کابل ته وغوښت. دا وخت ټول په سردار پورې ورټول شول او له دې بدې ورځې څخه د خلاصون په خاطر یې لارې-چارې لټولې او سردار څخه یې وغوښتل، چې دوی کابل ته وانه ستول شي، په خپله سردار په دشت شادیان کې د خپلواکۍ اعلان وکړ او خلکو ته یې وویل، چې خلك د امیر له ظلم څخه په تنګ شوي دي او ما ته یې بلنه راکړې که د دوی خبره رد کړم، نو سردار محمد ایوب خان، چې د انګرېزانو په لاس کې دی، راځي او کابل به ونیسي. ټولو عسکرو، افسرانو او مامورینو بیعت لیکونو کې لاسلیك وکړ، خو یوه تن د سپاره کنډك ضابط (حبیب الله) لاسلیك ونه کړ، نو هغه اعدام کړل شو، دا ځکه هغه وویل، چې زما مُهر نشته، په دې توګه وسله وال کېدل پیل شول او د ولایت پولې وتړلې شوې او په جامع جوماتونو کې خطبې ولوستل شوې. د عسکرۍ چوڼۍ د توپونو ډزې وشوې او عسکري سوقیات پیل شول، سردار اسمعیل خان د سردار محمد اسحق خان زوی هغه یوا ځینی څوك و، چې کورنۍ جګړه یې د هېواد په ضد وبلله او د خپل پلار د فیصلې مخالف و.

سردار له خپل پوځ سره یو ځای د قطغن خان آباد پورې ورسېد، د قطغن او بدخشان پوځونه له جنرال سیدال سره یو ځای له سردار سره یو ځای شول، خو د قطغن والي عبدالله خان توخي په خنجان کې په خپل ځای پاتې و. کله چې سردار په نهو منظمو کنډکونو کې او توپچي ځواك سره د قطغن له نیولو

Scanned by CamScanner

وروسته بېرته تاشقرغان ته راغی او په (غزني ګك) سیمه کې د وضع الجیش په بڼه پاتې شو امیر عبدالرحمن خان د سردار په ضد په ټول هېواد کې ډېر پراخ او اغېزمن تبلیغات پیل کړل، په میمنه کې خلك د دغه تبلیغاتو په اثر له عسکرو سره یو ځای شول او ددې ولایت د پوځ قوماندان جنرال شریت. چې د سردار پلوي و. ونیول شو او هرات ته واستول شو. هلته په هرات کې جنرال له خپلو پېنځو تنو ملګرو (صمدخان کمیدان، توره خان منګباشي. المار خان قراول بیګي. کمال الدین شا آغاسي. او امیر بیګ خان) سره یو ځای اعدام او سرونه یې له بوسو ډك او امیر ته واستول شول. د امیر ځواکونه په دوو لارو. نیم د هزاره او دره صوف له لارې او نیم د تاشقرغان له لارې روان شول. د بلخ د پوځ قوماندان جنرال محمد حسین خان او د کابل د پوځ قومندان جنرال غلام حیدرخان (چې په لنډې سپه سالار یادېد) د غزنیګك او حضرت سلطان په سیمه کې سره مخامخ شول. د غونډیو او د دښتې په محاذونو کې جګړه پیل شوه. سردار له یوه لوړ ځای څخه د جګړې څارنه کوله. د سردار پوځونه د دښتې په محاذ کې د کابل پوځ ته ماتې ورکړه. دوی ددې پر ځای چې جګړې ته دوام ورکړي. جګړه یې پرېښوده او لوټ کول یې پیل کړل. په دې توګه له ماتې سره مخامخ شول او وتښتېدل. جنرال محمد حسین غونډۍ ته پورته شو او د کابل پوځیانو خپله تسلیمي وښوده او د سلام د وړاندې کولو په خاطر د سردار خوا ته روان شول. خو جنرال محمد حسین خان منظم مخابرات نه لرل او سردار د جګړې د میدان له پېښو څخه بې خبره پاتې و. کله چې سردار د خپلو پوځیانو تېښته او دې خوا ته د کابل د پوځ راتګ ولید. نو شخصاً یې په هغوی د توپچي ډزې پیل کړې. حال دا چې د کابل پوځ د تسلیم کېدو په خاطر را روان و. دا مهال سردار ته وویل شول، چې د اردل (کابل) پوځ سلام کړی. ده فکر وکړ. چې دده خپل پوځ دښمن ته سلام کړی، نو ځکه یې فتح شوی ډګر پرېښود او په بیړه مخ په تاشقرغان روان شو او له هغه ځایه د آمو غاړې ته ولاړ، کورنۍ یې له مزار څخه راغله او دده ټول ۸۳۷۷ تنه ماتې خوړلي ملګري د پېنځو ورځو په ترځ کې له جیحون څخه پورې وتل او په شیرآباد کې او وروسته بیا په قرچي کې دیره شول. د بخارا امیر یې میلمه پالنه وکړه او د دوی لګښت یې ورکړ. وروسته یې دوی بېلا بېلو ښارونو کې وویشل، چې په خپله کار وکړي او خپله ډوډۍ پیدا کړي. سردار ته دده خپلو ځانګړو ۳۰۰ تنه ملګرو سره د سمرقند په چهارباغ کې ځای ورکړل شو او د روسیې دولت په کال کې ۱۲ زره منانه معاش ورته وټاکه. امیر عبدالرحمن خان په خپله بلخ ته ورغی او د مزار د لارې په ترځ کې یې، چې کله د یوه سایه بان (څپرې) تر سیوري لاندې پوځ رسم ګذشت کوت. یو هراتي عسکر له کتار څخه راووت او پر امیر باندې یې د ټوپك ډز وکړ، دا مهال ناڅاپي د ځوکۍ یوه اړخ ته کوږ شو او ډز خطا شو، ګولۍ د څوکۍ پر تکیه ولګېده او د څوکۍ شاته ولاړ ساتونکی یې ټپي کړ. په دې توګه امیر ژوندی پاتې شو. جنرال غلام حیدرخان د رسم ګذشت د تیرېدو کربښې ته لنډ ولاړ و. ډېر ژر یې دغه عسکر د تورې په ګوزارونو وواژه او د امیر د منع کولو غږ ته یې غوږ ونه نیو. له همدې لامله د سپه سالار لنډي ټوله شتمني د هغه له مړینې څخه وروسته ضبط او سره له دې. چې ډېر خدمتونه یې کړي وو. بیا هم د هغه کورنۍ د بندیانو په توګه کابل ته راوستل شوه، وروسته بیا د امیر دغه څوکۍ چې شاته یې سوری و. وزیر محمد اکبر خان له هغې تومانچې سره یو ځای

Scanned by CamScanner

چې مکناټن وزیر محمد اکبر خان ته ورکړې وه او وزیر محمد اکبر خان مکناټن په هماغه تومانچه ویشتلی و. دواړه د افغان او انګلیس له دریمې جګړې څخه وروسته د ارګ د «کوټې باغچه شاهي» په لومړني موزیم کې کېښودل شول. خو وروسته بیا دا دواړه ورك شول.

په هر حال. امیر مزار ته ولاړ او چارې یې سمبال کړې او بېرته کابل راستون شو. خو د سردار محمد اسحق خان له پلویانو څخه یې ډېر کلك غچ واخیست، هغه بندیان. چې د سردار له پوځیانو څخه دده لاس ته ورغلي وو. ټول یې کابل ته راوستل او د ورځې یې پېنځلس پېنځلس تنه د مراد خانیو په ډګر کې د کابل د پوځیانو په تورو ټوټه ټوټه کول.

## د هزاره جاتو پاڅون (۱۸۹۱– ۱۸۹۲)

په اصل کې د هزاره جات خواریکښ خلك. چې د هېواد په زړه کې پراته دي. له ډېرې مودې راهیسې د طبیعي سختو لارو او د تنګ راتګ د پېچومو له لامله له پلازمینې سره په اړیکو کې لرې پاتې دي. دوی په خپلو سیمو کې د کرنې. څارویو روزنې. فلزکارۍ، اوبدلو، تغر جوړولو او نورو وسایلو د جوړولو په چارو بوخت پاتې و. دغو شرایطو په دغه سیمه کې د فیوډالي ژوند تر شرایطو لاندې د ملوك الطوایفي د ټینګښت او پراختیا لپاره لاره هواره کړې وه. نو ځینې ددغه ولایت په هره لویه او کوچنۍ سیمه کې بوزیات شمېر ملوك الطوایفي وې، وروسته وروسته، چې کله د مذهب له پلوه دلته یو څه پرمختګونه واقع شول، یو شمېر مذهبي مشرانو د سید. مجتهد. مبلغ، ملا او خطیب او نورو په نومونو سره د ملوك الطوایفي تر څنګ ودرېدله د هزاره جات خلکو. چې مخکې له دې یې د خپل زیار ډېره برخه حاصلات د میر. ملك ارباب، سلطان او خان په خوله کې وراچول، اوس یې خپل پاتې حاصلات د شرعیت ددغو نایبانو په خولې کې اچول هم پیل کړل. په دې توګه د بزګر او چوپان د زیار برخه نوره هم خواره شوه. هزاره شپون او بزګر دمالیاتو. بیګار او د خان او ملك د دسترخان د خرڅ او د نذر او نذور. خمس، زکات او نورو نومونو سره خپل شته له لاسه ورکول او ارباب، خان او روحاني هغه ورڅخه څټل. په عین حال کې یو شمېر مرتجع، عناصرو د خلکو افکار د خرافاتو، اوهامو او تروړمې په لوري بیول د هزاره جاتو ټولې حاصل ورکوونکې کرنیزې ځمکې. څړځایونه او بډایه کروندې ټولې د همدغو ځبېښناکګرو ډلو په لاس کې وې. له بلې خوا مفتې ډوډۍ. راحت ژوند او بې زحمته خوراك ددغې ځبېښناکګرې طبقې د نسل او جنس د لا زیاتېدو لاره هواروله. په رسمي او اداري اړیکو کې هم د هزاره جات او د هېواد د مرکزي ادارو تر منځ وکیل او د رابطې کړۍ هم فیوډال طبقه او روحانیون وو. دوی به د اړتیا پر مهال د خپل استثمار او ځبېښناك حاصلات د دولت له رسمي مامورینو او د سیمه ییزو چارواکیو سره ویشل او خپل دریغ یې په خلکو کې اوچت ساته. ددغې ډلې یو مشر میرناصر بیګ نومیده، چې د امیر شیرعلي خان په دربار کې یې ښه واك او اغېز ترلاسه کړی و. او ویې کولای شول. چې خپل خلك د افغانستان په اردو او پوځ او دربار کې له شاملېدو څخه لرې وساتي. د دایزنګي د سه پای د سیمې د یوه بل مشر علي زاهد خان زوی محمد عظیم بیګ یو بل هغه فیوډال و، چې امیر

کې يو ليك کې وليکل: زما پلرونو د افغانستان د پخوانيو پاچايانو په ۱۸۸۸ عبدالرحمن خان ته يې په ضد يو شمېر فعاليتونه کړي وو او هزاره او پښتنو خلکو ته يې زيانونه اړولي وو، ما همدا کار وکړ او اوس له دولت څخه په وېره کې يم. که چېرې پاچا ماته د سردارۍ رتبه راکړي، نو د دولت خدمت ته به حاضر شم. سره له دې، چې امير عبدالرحمن خان د ځواکمن ملوك الطوايفيو د ړنګولو پروګرام درلود، خو د عظيم بيګ د واك لاندې راوستلو په خاطر يې د هغه غوښتنه ومنله او په دې ډول سره په ۱۸۸۸ کې بيګ دربار ته راغی او امير لکه هغسې، چې ژمنه يې کړې وه، هغه ته يې د سرداري لقب ورکړ. نور هزاره فيوډالان، چې په بېلا بېلو درواو ناوو کې وو، د مرکزي دولت په ضد پاتې شول او په سيمه ييز مقاومت اخته وو. د بېلګې په توګه په ۱۸۸۲ کې د پشه يي او شيرداغ خلکو د سردار شيرعلي خان جاغوري د زامنو ابراهيم سلطان، عبدالعلي خان او سلطان علي خان او د هغه د لمسي حيدرعلي خان په مشرۍ د دولت په وړاندې پاڅون وکړ، خو امير عبدالرحمن خان پوځ ور واستاوه او هغه خانان، چې د اړ-دوړ په سر کې وو ټول دولت ته تسليم شول، تر څو چې د دغه مقاومتونو متمرکز شول او يو عمومي اړخ يې وموند. امير عبدالرحمن خان به په ۱۸۹۱م. کې سردار عبدالقدوس خان د هزاره جاتو د بشپړ سمبالښت لپاره د هرات، کابل او کندهار له پوځونو څخه يو جوړ شوی لښکر سره سره ور واستاوه. هغه له خانانو سره په روغه جوړه چلند وکړ او زياتره يې تسليم شول او حکومت ته يې ماليه ورکول ومنل هرخان د امير له خوا بخششونه هم ترلاسه کړل او دغه ولايت آرام شو. امير په ځينو ځايونو کې کلکې کلاوې ونړولې او مقاومت کوونکي يې ټول وځپل او يو شمېر نور يې د پاڅون د مشرانو په نوم کابل ته راوستل. د امير عسکر په هغو چونيو کې ځای پر ځای شول، چې د خلکو په بيګار جوړې شوې وې.

سردار عبدالقدوس خان په هزاره جاتو کې له يو شمېر پوځ سره د تنظيميه رئيس په توګه پاتې شو. وروسته دده د پوځيانو يو څو تنو په ارزګان کې، چې د دولت تابع و، د يوې کورنۍ په پت تيری وکړ. دې پېښې خلك په غوسه کړل او په ارزګان، زابل او اجرستان کې خلکو تورې ته لاس کړ. دغه اړ-دوړ او پاڅون نور هم پراخ شو، يو شمېر لويو فيوډالانو لکه مير فضلت بيګ، ميرمحمدرضا بيګ او نورو په دغه اور باندې پکې وواهه او د اور لمن پراخه شوه. عبدالقدوس خان هغو مشرانو ته، چې مخکې بخششونه ورکړي وو، هغوی يې بنديان کړل او کابل ته يې راولېږل. دوی يې د کابل په ويرونکو جيلونو کې واچول، په هزاره جاتو کې خلك نور هم وويرېدل، نو ځکه يې لا زيات مقاومت پيل کړ. په ۱۸۹۱م. کال کې کوچني او سيمه ييز جنګونه د هزاره جاتو په يوه عمومي جنګ بدل شول. په تېره بيا کله، چې يو شمېر بيطرفه خلك هم د دولت په ضد پاڅېدل. د دولت ګدام ساتونکي غلام حسين خلکو سره دومره ظالمانه چلند کاوه، چې خلکو د پوځ لپاره نوره غله نه تحويل کوله او د عبدالقدوس خان پوځ په خپله د غلې په راټولولو پسې ووت، چې ورو ورو خبره د خلکو ځورولو او لوټ ته ورسېده، دا مهال په خپله سردار په عصبي ناروغۍ باندې اخته وو او دغه وضعيت يې نور هم حال ور خراب کړ. د پوځ يوه شراچوونکي افسر کلنل فرهاد د خلکو څاروي لوټ او کورونو ته يې اور واچاوه او د جنګ يو شمېر بنديان يې اعدام کړل او خلکو ته يې کنځلې کولې. په دايزنګي کې هم يوه سرتېري د مير يزدان

Scanned by CamScanner

بخش په کورنۍ تيري وکړ، حال دا چې دايزنګي او دايکندي دولت ته پنځه زره عسکر ورکړي وو. په دې توګه فيوډالان، بزګران، روحانيون او ښاروي لرونکي خلک ټول سره يو شول او دفاع يې پيل کړه او خونړۍ جګړې وشوې.

امير عبدالرحمن خان بيا بيا څو څو ځلې سوقيات وکړل، امير د ارزګان د تسليم شويو خلکو هغه استازي په کابل کې کې بنديان کړل، چې څو آسونه يې هم امير ته د سوغات په توګه راوستي وو. دغې پېښې له دولت سره د هزاره ګانو وروستۍ اړيکه هم پرې کړه. هزاره خلکو په ډېرې ناهيلۍ سره په دفاع لاس پورې کړ، آن دا چې د سه پای محمد عظيم، چې د سردار لقب ورته ورکړل شوی و، هم له دولت څخه مخ واړاوه او له جګړه مارو سره يو ځای شو. د همده ځواکونو د چورې په غابنې کې د عبدالقدوس خان پوځ ته ماتې ورکړه. او هغه ۴۵ تنه نجونې يې هم راخلاصې کړې، چې دغه سردار نيولې وې په ارزګان کې د بريګيډير زبردست خان پوځ له ماتې سره مخامخ شو، جنرال شير محمد خان او جنرال مير عطا محمد خان دواړه تښتيدان شول، امير عبدالرحمن خان له خپلو ټولو اعلانونو څخه هيڅ پايله تر لاسه نه کړه او کله يې، چې د هزاره خلکو سرسختي وليده، نو نور يې هم زيات له ځواک څخه کار واخيست او لا زيات پوځونه يې ور واستول. امير، چې ځانته د خلکو د پام را اړولو په خاطر اعلان کړی وو، په دې برخه کې يې هم يو اعلان خپور کړ. دلته يو هغه اعلان راوړو، چې امير د دايزنګي په بهسودو او دايکندي خلکو ته استولی و.

"له هزاره وو سره نه دښمني لرم او نه مې پخوا درلوده، که مې دوی سره دښمني لرلای، نو دوی به مې يو تن هم په افغانستان کې نه وای پرېښې، خو داسې نه وه، نو ځکه ما د دوی د غمخورۍ لپاره هڅې وکړې. له دې لامله، چې دوی مسلمانان او اهل قبله دي. نو په دوی کې مې د لور او زوی پلورل منع کړل. کله، چې د ارزګان، اجرستان او زاولي خلکو سرغړونه پيل کړه او بيا بېرته تسليم شول، دا د دې لپاره، چې د هزاره ګانو مشران ټول هغه څه، چې کولای شول، له خلکو يې واخيستل او د دوی زامن او لورګانې به يې پلورل. دولت د دوی لاسونه له دغه ډول قبيح اعمالو څخه لنډ کړل. هغوی ته عادت پرېښودل له مرګ څخه هم سخت وو، نو ځکه يې فتنه او فساد پيل کړ. که چېرې دوی سولې ته غاړه کېږدي، نو د پاچاهۍ د عاطفې او رحم وړ به وګرځي که نه له قتل او لوټ سره به مخامخ او د خپل عمل سزا به وګوري."

هغوی د امير د دغه منشور په وړاندې ورته وليکل:

"د حضرت اعلی فرمايش ټول سم او له واقعيت سره برابر دي، خو د نظام افسر، مامور او چارواکي په هر ځای کې د خلکو اولاد، مال او وينې ځانته حلالې بولي، د هغوی په هيڅ سر و مال صرفه نه کوي، په پيل کې سردار عبدالقدوس خان د هغو طوايفو، مطيع کولو لپاره، چې تابع نه وو، ډېر لږ ځواک سره راغی. د دايکندي، دايزنګي، دای چوپان، بهسودو، مالستان، جاغوري او غزنه خلکو له دغه سردار سره د خدمت ملا وتړله هڅې يې وکړې او د هزاره هغو مشرانو، چې په خلکو يې ډېر ظلمونه کړي وو تسليم سرټيټ کړ، دوی خپلې کلاوې ونړولې او وسلې يې کېښودې، خو وروسته له هغه څخه چې کله د

دولت پوځیان په سیمه کې کلک شو. هماغه نجونې او هلکان، چې اعلیحضرت د هغو پلورل وو. هغه یې مفته په زور سره ترلاسه او بیا یې په هغو هم بس ونه وایه بلکې بوتلې. نو ځکه خلکو سرغړونه پیل کړه. بغاوت وشو او هر څه یې ولیدل. له بلې خوا د (ملایانو) د مصلح او مفسد (سم او ناسم) توپیر ونه کړ ټول یې تکفیر کړل. له هغه وروسته چې کربلاییان. سادات او زوار دې کابل ته ولېږل شي. دوی نور ځانونه مړه او خپل مال او شوي وګڼل. نو ځکه یې مرګ ته غاړه کېښوده او سرغړونه یې پیل کړه او د ژوند تر پایه غاړه نه ږدي.(۱)

له دې پرته امیرعبدالرحمن خان دغې پېښې ته مذهبي بڼه ورکړه. امیر د میراحمدشاه خان له خوا شوې اعلامیه باندې مهر او لاسلیك وکړ او مذهبي تفرقه یې لا پسې ژوره کړه. امیر خپل سیاست په دې برخه کې عملي کړ، چې تل به یې په داسې حالاتو کې پر مخ بیوه. یعنې د لنډې لپاره یې یو غیر منظم پوځ د پاڅون کوونکي سیمې له شا و خوا خلکو څخه جوړ کړ او په دولتي یې سمبال کړ او سیمې ته یې واستاوه. امیر به دغه ډول غیر منظم پوځ ته تر منظم پوځ څخه زیات ورکاوه. امیر عبدالرحمن خان په خپل دغه کار سره د افغانستان د بېلا بېلو سیمو د خلکو تر منځ اتفاقي رامنځته کوله. تر څو هېڅکله خلك ونشي کولای، چې د دولت په وړاندې یو موټي او هماغه څه وو، چې د انګلیس استعماري دولت په افغانستان کې غوښتل او په نورو ختیځو هېوادونو کې یې هم تطبیق کول. امیر د خپلې نقشې لپاره له کابل، بلخ، هرات او غزني څخه هزاره جات ته پوځونه واستول. د هغه لوی افسران دا وو: سردار عبدالقدوس خان (وروسته بیا اعتماد الدوله شو)، سردار فقیر محمدخان، د کندهار والي سردار عبدالله خان، جنرال شیرمحمدخان، کرنیل فرهاد خان، سپه سالار غلام حیدرخان، برګډ امیر محمد خان او یو شمېر دولت پلوه فیوډالان لکه د سردار شیرعلي جاغوري زوی سلطان علي خان، میرحسین بیګ اشترلي، میریوسف بیګ تخت او نور. د ۱۸۹۲ کال په ترځ کې د هېواد د ننه کورنۍ جګړه روانه وه، چې له پاڅون کوونکو سره یو اخېي توري، چړې، ټوپك او تومانچې وې، نو ځکه یې تلفات هم ډېر وو. په دغو جګړو کې د فیوډالانو په پرتله روحانیون ډېر ووژل شو، دا ځکه فیوډالان زیاتره تسلیم کېدل. حال دا چې روحانیون یا وژل کېدل یا تښتېدل. په یکاولنګ کې د روحانیونو سل کورنۍ د دولت لاس ته ورغلې او زر کورنۍ یې وتښتېدې او دوه زره او سل تنه روحانیون په جګړه کې ووژل شول. امیر عبدالرحمن خان د هزاره ګانو ټول فیوډالان ونازول او قدر یې وکړ، چې د دولت پلوي یې کړې وه او هغو ته یې رتبه او معاشونه ورکړل. لکه سلطان علي خان جاغوري ته، چې د سردار شیرعلي خان زوی و او په کال کې یې څلور زره او درې سوه روپۍ مستمري ورته وټاکله او په کال کې یې ۵۴ خرواره غله ورکړه. دا ځکه چې نوموړی د پاڅون کوونکو ډېر مشران ونیول او دولت ته یې وسپارل او د خپل دغه چوپړ تصدیقونه یې له جنرال شیرمحمد خان، کرنیل محمدحسن خان او د ارزګان له حاکم سمندرخان څخه درلودل.

۱- سراج، دریم ټوک، ۸۹۰ مخ

Scanned by CamScanner

امیر یو شمېر هغه افسرانو ته سزا ورکړه. چې له خلکو سره یې ظلم کړی و. د بېلګې په توګه جنرال میرعطا بندي او شتمني یې ضبط شوه، هغه د اجرستان له ۵۰۰ هزاره کورنیو څخه د کور په سر ثلوېښت منه غنم او اوربشې او له بې ځمکې خلکو څخه یې د کور په سر درې روپۍ اخیستې وې او یو کوژدنه نجلۍ یې هم په زور په نکاح کړې وه.

کلنل فرهاد. چې په هزاره جات کې مړ شوی و. د هغه ټوله شتمني مصادره شوه. دا ځکه چې هغه د شیخ علي په جګړه کې د خلکو اووه زره خاروي لوټ کړي وو او ۳۵۰ تنه بېګناه خلک یې له جاغوري څخه کابل ته د بندیانو په توګه را استولي و. چې هر یو یې په ۲۰-۲۰ روپیو په بازار کې وپلورل شول او په نیله یې خلک په تکلیف او سپك کول البته امیر عبدالرحمن خان د خپلو دغو افسرانو په سزا ورکولو کې داموخه لرله. چې د خلکو په وړاندې خپل مسئولیت کم کړي. د دولت د افسرانو په ډله کې سپه سالار غلام حیدرخان لنډی او بریګېډیر امیر محمد خان هغه کسان وو. چې د نظامي دندې په ترڅ کې یې له خان څخه غوره نظامي اخلاق ښودلي وو.

وروسته تر هغه، چې امیر عبدالرحمن خان ګڼ شمېر هزاره روحانیون او یو شمېر مخالف فیوډالان له منځه یوووړل، نو د پخلا کولو لاره یې غوره کړه. امیر د عظیم بیګ سه پای لور، چې په بندیانو کې نیول شوې وه. خپل زوی سردار حبیب الله ته واده کړه او یو شمېر داسې اعلانونه یې طبع او خپاره کړل. چې تښتیدلي شورشیان بېرته خپلو کورونو ته راستانه شي او امر یې وکړ، چې د خلکو د کښت او کار لپاره تخمي غنم په مرستې سره ورکړل شي او کاختي ځپلو سیمو کې به د آذوقې مرستې وشي. امیر په هزاره جاتو کې د هزاره وو خلکو او کوچیانو د څړ ځایونو تر منځ برید وټاکه، خو مخکې له هغه څړځایونه د دولت شتمني ګڼل کېده او یو شمېر اجاره لرونکي یې ورته ټاکلي وو. چې هغوی د څړځایونو ځیني برخې په کوچیانو پلورلې وې. همدا رنګه امیر امر وکړ. چې تر لانجې لاندې ځمکې دې تر ډېره پورې د فیوډالانو له واك څخه واخیستل شي او هزاره بزګرانو ته دې ورکړل شي، خو دغه پاخون په دومره غوسې سره ځپل شوی و. چې په زرګونو کورنۍ له جیحون څخه پورې غاړه هند او ایران ته تللې وې. د هند انګلیسي حکومت له فراریانو څخه دوه پوځونه جوړ کړل. کله چې پاتې هزاره ګان له دوه کلنو جګړو څخه وروسته خپلو کورونو ته راغلل، ډېر لږ یې راستانه شول، د بېلګې په توګه په بهسودو کې له ۲۰ زره کورنیو څخه فقط شپږ زره یې بېرته راستانه شول. کروندې شاړې او کورونه ویجاړ شوي وو، د امیر له امر سره سم د هزاره ګانو په زرګونه زامن او لورګاني هم دننه په افغانستان کې او هم په بهر کې وپلورلې. په هزاره جاتو کې د امیر ظلمونو د هېواد په تاریخ کې ساری نه درلود، چې بېلګې یې یوائې د چنګیز د یرغل پر مهال لیدلای شو او بس. وروسته امیر امر صادر کړ، چې د هزاره ګانو غلامان او کنیزې باید له هېواد څخه بهر (یعني پر هندیانو) ونه پلورل شي او ۱۸۹۷ کې یې هغه ټکس لغوه کړ، چې د هزاره ګانو د کنیزانو او غلامانو پر سر یې وضع کړی و، خو هغه زرګونه، چې د افغانستان دننه پلورل شوي وو د برده (مریي) او غلام په توګه پاتې شول. تر څو چې د شاه امان الله خان پر مهال د هغو آزادي اعلان شوه او هزاره ګان هم بیا د دغه پاچا پلویان شول او د سقو د زوی د اړ-دوړ

پر مهال یې ددغه پاچا د پرځېدو تر وروستي شېبې پورې د هغه پلوي وکړه. له دې پرته امیر عبدالرحمن خان د هزاره ګانو د پاخون پر مهال مذهبي تفرقه (د شیعه او سني تر منځ) نوره هم پراخه کړه او هغه یې په یوه نه رغېدونکي تپ واړوله، چې وروسته بیا د شاه امان الله په لاس مخ په رغېدو شوه ددغه پاچا پرمهال مذهبي دودونه آزاد وو او د هر مذهب پیروان او آن هندوان په خپلو ټولو حقونو کې مساوي وشمېرل شول.

## د نورستان سمبالول

د افغانستان په شمال ختیځ کې نورستان د سختو لارو غرنۍ ولایت و، چې تر هغه مهال پورې یې په پخواني نوم بلوریا بولر په نوم یادېده. دغه سیمه د هندوکش د لمنو تر ټولو ګوښه سیمه وه، یو مهال دغه سیمه له چترال او ګلګت سره یو ځای ډېره پراخه ولایت و، په شپاړسمه پېړۍ کې مسلمانانو دغه ولایت ته کاپرستان ویل، دا ځکه چې لا تر دې مهاله یې خلکو بتان لمانځل. ددغه ولایت خلکو په صنعت، ترکاڼي، پښګري او چرمګري (څرمن جوړولو) باندې پوهه لرله. په څوارلسمه پېړۍ (۱۳۹۸) کې یو ځل امیر تیمور ګورګان له اندراب څخه د پنجشیر له بري خوا څخه نورستان ته ورغی، خو د ډېرې یخنۍ او د سختو لارو له لامله یې څه په وس پوره نه شول، ځکه نو بېرته راستون شو. بابر هم وروسته همدا هیله لرله، چې هغه ځای ونیسي، خو د هغه سپور لښکر هم ونه توانید، چې هلته پرمختګ وکړي. امیر عبدالرحمن خان ۱۸۹۱م. کال نورستان ته پام وکړ، چې لا دا مهال د انګرېزانو له حرص څخه پټ پاتې و. دغو خلکو له پخوا زمانو راهیسې په خپلو ګوښه او سختو درو او ناوو کې خپل ځانګړی ژوند، خپلواکي او سیمه ییز دود- دستور، ژبه او لرغونی مذهب درلود. امیر سپه سالار غلام حیدرخان څرخي ته، چې د ننګرهار او لغمان د ولایتونو والي او قومندان و، امر وکړ چې ځان چمتو کړي، تر دې مهال پورې یو نیم له نورستان څخه د کابل دربار ته تلل راتلل او یو نیم نورستاني به د ماموریت په دندو کې هم نیول کېدل. یو شمېر نور نورستانیان، چې د پنجشیر په ګاونډیو کې وو، دولت ته یې مالیات ورکول، خو یوې نیمې ډلې به یې، چې لغمان سره نږدې وو، ځیني وختونه به یې په لوټ او برېدونو لاس پورې کاوه. له دې لامله، چې د هغوی دین فرق درلود، نو د هغوی په وړاندې دفاع هم مذهبي بڼه لرله. سپه سالار څرخي د نورستان د نیولو په خاطر د لارو جوړولو ته پام وکړ او یو څلور زره کسیز پوځ یې هغې خوا ته د تګ لپاره چمتو کړ، خو هلته ورتګ ډېر ستونزمن و، دا ځکه تر څو چې له انګرېزانو سره افغانستان د ختیزو د پولو مسئله نه وای حل شوې، هلته تګ او د هغه ځای نیول بې ګټې و. د ۱۸۹۳ کال د نوامبر په ۱۲مه نېټه د ډیورنډ ناولې تړون، چترال د انګرېزانو خولې ته ور واچاوه او په ۱۸۹۵ کې یې په عملي توګه چترال ونیو، امیر عبدالرحمن خان یو ځل بیا نورستان ته پام واړاوه، خو د اسمار سیمه یې لا پخوا نیولې او سمباله کړې وه، خو امیر د چترال، باجوړ، تیرا، وزیرو، مسعودو او کُرمې د خلکو هغه غوښتنې نه منلې، چې دوی د لیك او خپلو استازیو په لاس ده ته راوړې او لېږلې وې. هغوی غوښتل، چې د ډیورنډ تړون برخلاف د انګرېزانو پر ځای د امیر اطاعت ومني، خو امیر د هېواد کلك او

Scanned by CamScanner

دیوالونه دښمن ته ور پرېښودل. د چترال د پخواني مهتر اماني الملك زوی سردار په جلال آباد وسپنیز
کې او چترالي نامتو مبارز شیرافضل خان په کابل کې د انګرېزانو د واك په وړاندې ودرېدل، چې د دوی
په سیمه واکمن نشي، همدا رنګه وروسته د ډیورنډ د کرښې له جوړېدو څخه عمراخان باجوړي هم پورتنیو دوو
افغانستان ته پناه راوړه، تر څو د دوی په سیمه د انګرېزانو د واکمنې په وړاندې مبارزه وکړي
تو پسې
په هر حال، سپه سالار څرخي، مخکې له دې، چې په نورستان ورشي په بریکوټ کې یې خپل پوځ
ودراوه او د نورستان له خلکو سره یې دوستانه اړیکې ونیولې، آن، دا چې یو شمېر نورستاني مخور
ورته راغلل او یو شمېر نورستانیانو د مالیاتو ورکول هم ومنل د کشتوز ډېرو اوسېدونکو اطاعت وکړ
او د اسلام دین یې ومانه، د کاموز خلکو د اسلام دین ونه مانه، خو د دولت د اطاعت ته یې غاړه
کېښوده. دا د سپه سالار لیاقت او پوهه وه، چې جګړه مار خلك یې په ډېرو لږو تلفاتو او پرته د توري له
استعمال څخه اطاعت کولو او د خپل پلرني دین پرېښودلو ته اړ کړل. له دې اضافه نه مړي وشو او نه هم
خلك مرییان شول. په ۱۸۹۶ کې سپه سالار تر اسمار پورې لار جوړه کړې وه او د نورستان د درې تر پیل
پورې رسېدلی و، نو خلکو ته یې اعلان وکړ، چې د دولت موخه داده، چې له نورستان څخه تر بدخشان
پورې یوه لاره جوړه کړي، بس. دې پسې وروسته په خپله له خپل لښکر سره نورستان ته ننوت، د هغه
ځلور زره کسیز پوځ د پېنځلسو ورځو آذوقې په لرلو سره په څلورو برخو وویشل شول: د کامدیش،
کوردیش، بتي ګل او بزګل په څلورو لارو پر مخ ولاړل. په خپله سپه سالار په پلي ډول په پښو سره د
کوردیش له سیند څخه پورې وت او له یوه غره څخه هم واوښت. دا مهال د نورستان خلك دوه ډلې شول،
نیم یې د سپه سالار اطاعت ته حاضر شول نیم نورو جنګ ته ملا وتړله. د بزګل خلکو خپل کورونه
پرېښودل، غرونو ته وختل او یو شمېر مخالفت کوونکي وروسته تر لږ جنګ څخه بېرته راغلل او
تسلیم شول. سپه سالار د کموز درې پورې ورسېد هلته د کاموز مشرانو او اوسېدونکو خپل اطاعت
وښود او د اسلام دین یې ومانه. همدوی یو انګرېزي جاسوس د هغه له څلورو وطني ساتونکو سره یو
ځای له خپلې سیمې څخه وشاړه، دا ځکه چې هغه خلکو ته تبلیغ کاوه، چې د انګرېزانو اطاعت ومني او
د امیر په ضد پاڅېږي. دې پسې کامدیش، بتي ګل او منډګل ونیول شو، هغو نورستانیانو، چې غرونو
ته ختلي وو، کله چې یې د سپه سالار غوره چلند ته وکتل، بېرته له غرونو څخه راکوز شول او تسلیم شول. هغه
نورستانیان چې سپه سالار کابل ته استولي وو، دده په سپارښت سره د امیر له خوا وستایل شول او سوغاتونه
ورکړل شول، یوائیني ډېر کلك جنګ، چې وشو هغه د کلوم په سیمه کې و، چې د دولت پوځونو څخه ۲۰۰
سرتیري ووژل شول. نورستانیانو په دغه جګړه کې غشي او لیندۍ قداره او توپك کارول.
سپه سالار د پلونو او لارو جوړولو ته کلکه ملا وتړله او ټول ولایت یې تر کنټرول لاندې راوست او
(لنډۍ سین) سیمه یې هم ونیوله. په سیمه کې یې جوماتونه جوړ کړل، دیني ښوونکي یې مقرر کړل او
سیمه ییز و مشرانو ته یې لونګۍ او ماهوت جوغې ورکړې. سپه سالار د نورستانیانو ۱۹ ارباب الانواع
(د لرګیو پژونه) او یوه اندازه غشي او لیندۍ کابل ته واستول او له هغه ځایه یې اتیا تنه دیني ښوونکي
راوغوښتل او د اسلام د دین په ښوونه یې پیل وکړ. وروسته بیا سپه سالار یو شمېر نور دیني ښوونکي

له کاپیسا. پروان. لوګر او لغمان څخه نورستان ته راوستل او له نورستان څخه د استخدام شویو
ژباړونکو په واسطه یې خلکو ته تعلیم ورکړ. خو سره له دې هم د پخواني دین بدلون په نوي دین باندې
ډېر آسانه او لږ وخت کې کېدونکی نه و او لا هم ۱۳٦۰ کورنۍ او شیر. مونونر. پشرو. سورنج. شنګر
دره. ایلوري. منجا. بارګل دره. کرم دوم. پیګل. براده. مسترګرام او نور کلي) د بت پرستۍ په حال کې
وې. امیر امر وکړ. چې د لغمان پخواني مسلمانان دې د دوی په منځ کې ورګډ شي. چې د اسلام دین
هلته خپور شي.

سپه سالار د نورستان د کرنیزو ځمکو د پراختیا او مساحت د ټاکلو په خاطر مساحین (جریب ګر) مقرر
او نغدي مالیه او غوړي یې ورباندې مقرر کړل او د څارویو شمېر یې هم معلوم کړ. د څارویو مالیه یې
په څلوېښتو کې یو څاروی وټاکه او د دوی په کرنیزو ځمکو یې دولس زره او څو سوه روپۍ مالیه
کېښوده کله. چې امیر خبر شو. چې د نورستان سفیدپوشان اسلام نه مني. د بدخشان قوماندان جنرال
تاج محمدخان ته یې امر وکړ. چې لښکر ور ولي او سفید پوشان (سپینې جامې اغوستونکي) مسلمانان
کړي. سپه سالار پرې نه ښود او په لیکلې بڼه یې امیر ته قناعت ورکړ. چې جنرال د هغه له عسکرو او
توپچي سره د بدخشان له لارې څخه بېرته وګرځوي. په دې توګه کاپرستان له مرکزي دولت سره وتړل
شو، خو د شنګل له کټور او سپېدونکو (سفیدپوشانو) د اسلام دین ونه مانه. په دغه ولایت باندې د
نورستان نوم کېښودل شو او سپه سالار بېرته بریکوټ ته ستون شو. دغه ټولې چارې د اتو میاشتو په
ترڅ کې په ۱۳۱۳هـ.ق کال (۱۸۹۲م) کال کې ترسره شوې. حال دا چې د سپه سالار د پوځ تلفات یواځې
۲۲۹ تنه وو او ۳۰ تنه ټپیان یې لرل (۵۰ تنه سرتیري د باندول په غابښي کې د ډېرې واورې له امله
ووژل شول) خو باندول. واینش او ممو ونیول شول د نورستان له مدافعانو څخه ۳۰۹ تنه بندیان او
کابل ته واستول شول. ډېر لږ او سپېدونکي چترال ته وتښتېدل دغه بندیان هغه کسان وو. چې د محمد
علي وکیل سیفیاني له خوا کابل ته لېږل شوي وو. نه د سپه سالار له خوا. نو ځکه د سپه سالار له
سپارښت سره سم هغوی ته د امیر له خوا د اوسېدو ځای. خوراک او جامې وټاکل شوې د محمد علي خان
وکیل سیغاني. محمد صدیق خان د تګاور حاکم او د پنجشیر د حاکم عبدالحمید خان درې زریز کنډکونه. چې د
امیر عبدالرحمن خان په امر د پنجشیر په لاره په جلا ډول نورستان ته استول شوي وو. د کورنیو د سیمې له نیولو
سره سره له ډېرو تلفاتو سره مخامخ شول.

## د روسیې له دولت سره اړیکې

له هغه راهیسې. چې انګرېزانو پر افغانستان باندې تیری وکړ. د افغانستان خلکو له اروپایي
هېوادونو څخه کرکه پیدا کړه او خپل اروپایي ګاونډي څخه بیزاره شول. امیر عبدالرحمن خان. چې ډېر
کلونه په روسیه کې ژوند کړی و. په ختیځ کې یې د هغه هېواد سیاست تحلیل کړی و او په دې باندې
پوهېد. چې د زاري دولت په دوستي باور کول تېروتنه ده. په تېره بیا د امیرشیرعلي خان او امیر
دوست محمدخان د دوستي تاریخچه هم ورته معلومه وه. له دې پرته امیر د روس او انګلیس د ۱۸۷۳

کال له نړون څخه هم خبر و، چې د روسیې دولت پرته له دې، چې له انګرېزانو سره اړیکې ونیسي، له افغانستان سره هېڅ ډول اړیکې نشي ساتلای او د روسیې د دولت دغه سیاسي شاته تګ په افغانستان کې د ځواکونو تعادل ته هېڅ ډول ځای نه و پرېښی. له بلې خوا د امیر دولت له انګرېزانو سره جوړجاړی کړی و، نو ځکه امیر د تل لپاره له روس سره له نږدې والي څخه ځان ساته، آن دا چې له روسیې سره یې د کوچنیو اړیکو او لیکنو په لېږلو کې هم ډېر زیات احتیاط څخه کار اخیست. امیر پولو ساتونکو ته ولیکل، چې د هېڅ روسیې پښه د افغانستان خاورې ته دننه نه شي او که چېرې کوم لیك لري، هغوی دې په پولو کې ودرول شي او لیکونه دې کابل ته راولېږل شي. هرات والي عبدالقدوس خان ځکه د امیر د غوسې او قهر وړ وګرځېد، چې په خپل سر یې له هرات څخه ایران د تیرېدو په خاطر یوه روسي ته د سفر کولو اجازه ورکړې وه، نو ځکه یې هغه له ولایت څخه لرې کړ، خو بیا هم امیر د روسیې له دښمنۍ څخه ځان ساته او ډېره هڅه یې کوله، چې د دوی ترمنځ کومه شخړه او دښمني رانشي. افغاني پوله ساتونکي او افسرانو ته دنده ورکړل شوې وه، چې هېڅکله د روسانو او لمسوونکو حرکاتو څخه اغېزمن نشي او وسلې ته لاس ورنه وړي. کله چې د امیر زوی سردار نصرالله خان په ۱۸۹۵م. کال کې په رسمي توګه لندن ته واستول شو، امیر هغه ته یوه ۳۳ توکو لرونکي هدایت لیك ورکړ، چې د هغه په پینځلسم توك کې لیکل شوي وو (که چېرې د روسانو د دښمنۍ خبره یاده شوه او یا هم که د سترګو له تور څخه وپوښتل شول. چې روس د افغانستان دوست دی که دښمن؟ نو ډېر لنډ، خو له معنا څخه ډك ځواب ورته ووایه، چې که روس زمونږ د پایمالولو، اراده نه لري، مونږ هم له خپلو پولو څخه ها خوا د تېرېدلو نیت نه لرو). د هغه په اتلسم توك کې راغلي وو: که چېرې د روس له زار یا د روسیې له مختار وزیر سره دې کتنه وشوه، نو همدومره ورته ووایه، چې: د خپل هېواد له پوله ساتونکو څخه، چې ستاسې د هېواد له پولو ساتونکو سره ګاونډیان دي همدومره خبر یم، چې ستاسې له پولو ساتونکو څخه خوشحاله دي، نو زه هم د اعلیحضرت امپراتور له دولت څخه خوښ یم او د امپراتور د ژوند د اوږدوالي هیله لرم. فقط.[1]

خو سره له دې هم امیر د افغانستان په اړه د روس د دولت د ناپېیلتوب په هکله ډاډه نه و او د روسیې د پولو په وړاندې یې د نظامي مرچلونو کلکول نه هېرول، هغه د پولو په اوږدو کې په اوږده کرښه کې له دهدادري څخه، بلخ او هرات او میمنې تر ښارونو پورې نظامي کلاوې او ځواکمن ساخلوي سرتیري لرل، خو دغه سیاست هېڅکله ددغو دو نږدې ګاونډیو ترمنځ سوداګرۍ او سوداګریزو اړیکو ته زیان نه رساوه، نو د سیاست برعکس د سوداګرۍ او د دواړو لوریو ترمنځ په اړیکو کې وار په وار پرمختګ تر سترګو کېده. د روس دولت خپل هېواد ته د غلې، غوړیو او افغاني پسونو په واردولو کې ګمرکي ټکس له منځه یووړ او ځان یې یو ډېر ښه پیرېدونکی وګرځاوه، همدا رنګه په بخارا کې د افغانستان د سوداګرو استازي مېشت و او په بخارا کې د افغانستان د قره قل پوستکي سوداګري ښه په پرمختګ

۱. ددغه دستورالعمل اصلي نسخه د امیرعبدالرحمن خان په لاسلیك د امیر د لمسي (کبیر سراج) په کورنۍ کې شته او په کابل کې یې ځینو خلکو سره عکسونه دي.

Scanned by CamScanner

ښخه هم یو شمېر اجناس لکه وړین رختونه، د ورېښمینو رختونه، تاري رختونه، کې وه. له روسیې لوښي، شیریني، چای، کاغذ، ورېښم، صندوقونه، مس تار او نور شیان وسلې، چیني لوښي، د وسپنې لوښي، شیریني، چای، کاغذ، ورېښم، صندوقونه، مس تار او نور شیان راتلل. خو په مرکزي آسیا کې د روسانو نظامي پرمختګ ګاونډیانو ته ویره پیدا کړې وه، چې تر هغه مهال پورې، چې د روسانو نظامي مرکز په اورنبورګ کې و په افغانستان کې د روسانو خطر نه احساس کېده، خو کله چې تاشکند ته راغلل، دغه خطر رانږدې شو او د خیوې او عشق آباد له نیولو څخه وروسته خطر نور هم ستر وبلل شو. د افغانستان دولت په ۱۸۸۳م. کال کې د واخان، شغنان او په لویدیځ پامیر کې یې روښان سیمې پوره سمبال کړې او په ۱۸۸۴ کې یې په بنجده کې ساتونکې ځواکونه ځای پر ځای کړل. د انګلوروس یو ګډ کمیسیون جوړ شو، تر څو د افغانستان د شمال لویدیځ پولې په نښه کړي، کله چې د روس دولت عشق آباد ونیو او تجن کې یې ځای ونیو او د سبار، واخال او سالور سیمې یې هم ونیولې، له ۱۸۸۴ کال څخه وروسته یې د ترکمانانو خوا ته عسکر ولېږل، چې هغوی له افغانستان څخه د مرستې هیله لرله. یو ناڅاپه یې مرو هم ونیوله، چې د تاریخ، دین او نورو اړخونو له پلوه له افغانستان- سره د یو ځای کېدو لېوال و، نه له روس او ایران سره. وروسته یې بیا سرخس ونیو او په هرات کې هم د بادغېس او آق رباط د نیولو په لټه کې شول. له دې څخه وروسته د هرات ولایت د روس تر سیده ګواښ لاندې راغی، په تیره بیا هغه مهال، چې د بخارا د وسپنې پټلۍ له مرو او سرخس سره ونښلول شوه. (د مروي او هرات تر منځ واټن ۲۴۰ میله و) حال دا، چې د انګلیس دولت لا هم د مصر په خاوره باندې د تیري په حال کې او له فرانسې سره په سیاسي مبارزه بوخت و. د انګلیس سرحدي کمیسیون د هند د حکومت د مشاور سر پتر لمسدن په مشرۍ له ۲۵ تنو افسرانو، ۱۳۰۰ افرادو ۴۰۰ کچرو او ۱۳۰۰ اوښانو سره د ۱۸۸۴م. کال د نوامبر په ۱۷مه نېټه هرات ته راغلل. په دې هیئت کې د انګلیس درې چوپړ کوونکي مسلمانان هم وو، لکه سردار محمد اصلان، میجر محمدحسین او میجر روح الدین خان، خو روسي کمیسیون لا معلوم نه و، انګرېزان څو میاشتې ورته په تمه و. د افغانستان دولت قاضي سعدالدین خان د افغاني هیئت د مشر په توګه وټاکه. امیر عبدالرحمن خان په ۱۴ توکو کې یوه کړنلاره صادره کړه: افغاني مامورین دې له خپلې یوې لویشتې خاورې څخه نه تېرېږي، د انګرېزانو د مامورینو سوغاتونه دې نه اخلي، د هرات پوخ دې د تیارسۍ په حالت کې وي، خلك دې پردیو سره ناسته ولاړه نه کوي. د افغاني هیئت مشر سره دې شپږ سوه تیار سرتېرې او پلي نظامیان او دوه توپونه وي او هغه به بدرګه کوي، چې لا خره به ورپسې درې زره سپور نور پوخ هم وي. دا چې د انګرېزانو د هیئت شمېر زر تنه ښودل شوی و، نو د افغانستان حکومت به په هر پړاو کې لاندې توکي ورکوي. د کابل په من اتیا منه اوړه- ۳۳۰ منه وریشې، ۳۲۰ منه بوس، ۲۰ منه وریجې ۴۰ دانې پسونه، ۲۰ منه غوړي،، یو دانه غویې، ۴۰ دانې چرګان، دوه منه قند، پنځه پاوه چای، ۲۰ باره لرګي، ۴۰۰ مشکه اوبه، ۱۰ ډیوې، دوه منه تنباکو یو چارك چرس او یو پاو تریاك. همدا رنګه اته سوه تنو انګرېزانو ته له کابل څخه په لاندې توګه جامې او نورې اړتیاوې واستول شوې: هر یو تن ته یو جوړه نظامي جامې، یو پوستین، یوه پوستینچه، یوه د کرك کرتۍ، یوه جوړه جرابې د پو

لاس موغې (دستکش) او هر آس ته یو ځولۍ. همدا رنګه امر وشو، چې په ژمي کې دې ۲۴۰ جوړه
خرګاوې (کېږدۍ ډوله دالان) په بادغېس کې د انګرېزي هیئت د اوسېدلو لپاره ودرول شي (وروسته بیا
انګرېزانو خپل خوراکي توکي په خپلو پیسو پیرودل).
په ۱۸۸۵م. کال کې امیر عبدالرحمن خان ته د هند د وایسرا لارد ایپین له لورې بلنه ورکړل شوه، خو تر
څو چې امیر هلته ورسېد لارد دو فرین د هغه په ځای ګومارل شوی و. امیر عبدالرحمن خان د مارچ په
پای کې لاهور پنډۍ ته ورسېد او مارچ په ۵ دېرشمه روسانو په پنجده برید وکړ، حال دا چې د ۳-۱۸۷۲
کال د تړون له مخې، چې د روس او انګلیس د دولتونو (ګرانویل او کورچیکوف) تر منځ لاسلیك شوی
و، د افغانستان پوله د پنجده په شمال کې ټاکل شوې وه. د افغانستان دولت پل خاتون (چې د پخواني
سرچېل څخه ۱۲ فرسخه لرې او ایران نیولی و او د هریرود دې غاړې ته و) خپله پوله بلله او روسیې
هرخس خپله پوله بلله (هغه یې له ایران څخه اخیستې وه) همدا رنګه افغانستان له سلو کالو څخه را دې
خوا پنجده خپله ګڼله، خو روسانو ورته سترګې نیولې وې. افغانستان یو لتان سیمه (بې څښتنه) ګڼله،
خو روسانو نه منله. د افغانستان حکومت په مروچاق کې یوه نظامي کلا جوړه کړې وه او پنجده ته یې
حاکم لېږلي و (لومړی حاکم یې امین الله خان و او دوهم حاکم یې یلنګ توش خان) او هلته یې پېنځه سوه
سرتیري د کلنل شاه مرد خان تر مشرۍ لاندې ګومارلي وو. مرآقا خان آجیدن او علي اکرام خان سارجن
ساخلو استخدام شوي وو. جنرال تیمورشاه په مرغاب کې اړولي وو او ۵۵۰ سپاره او پلي منظم او غیر
منظم پوځ یې په آق تیپه او د کشك په پل خشتي کې لرل او محمد امیرخان افشار له خپلو ۱۰۰
تنوسپرو سرتېرو سره په ذوالان کې پروت و.
د افغانستان او روسیې تر منځ شخړه په ۱۸۸۴ کې را نوې شوه. په دې معنا، چې د ۱۸۸۴ کال په جون
کې افغاني لښکر په پنجده کې متمرکز شو او روسانو د دې په وړاندې پل خاتون او قزل تیپه ونیول او
په کشك کې تر پل خشتي پورې را ورسېدل، افغاني پوځ لږ پورته مخ په شمال ولاړل سرای یازي کې یې
مورچلونه جوړ کړل. ددې وخت روسیې یو وړاندیز وکړ، چې انګلیس استازي دې له روسیې استازي
سره د پولو د ناټاکل شویو برخو په هکله خبرې وکړي.
لمسدن او زیلنوي باید په سرخس کې سره کتلي وای، خو د دواړو خواوو د مکاتباتو په ترځ کې کومه
پایله ترلاسه نه شوه، نو ځکه په ۱۸۸۵ کې کوماروف په پنجده باندې برید وکړ. په اصل کې دغه د پولو
په سر خبرې له ۱۸۸۲ کال څخه را دې خوا رواني وې او د روس او انګرېز تر منځ خبرې کېدې، چې په
پای کې د (کلارندن او ګورچیکوف) موافقه ترلاسه شوه. په ۱۸۶۹ کال کې ګورچیکوف کلارندن ته
اعلان وکړ، چې افغانستان د روسیې له نفوذ بهر سیمه ده، یعنې افغانستان باید د روسیې او انګلیس
تر منځ بیطرفه سیمه وي، خو انګرېزي لاردانو وویل، چې د روسیې او بریتانیا تر منځ پولې به یواځې د
آمو سیند وي، خو د روس دولت د انګلیس د دولت دغه بېځایه ادعا رد کړه. ددې اړتیا له مخې
(فورسوت) پتروګراد ته ورغی او یوه هوکړه یې وکړه، چې د هغه له مخې به انګلیس او روس دولتونه
دواړه په منځنۍ آسیا کې خپل نفوذ په کاروي، یعنې له بیطرفې سیمې څخه تیر شول او د افغانستان

Scanned by CamScanner

پولې د امیر شیرعلي خان د حکومت تر واك لاندې سیمې وپېژندل شوې. خو توپیر دا و، چې انګرېزانو امیرشیرعلي خان پواځې په همدا موجوده پولو کې امیر پېژاند. کافمان د روس د ترکستان حاکم دامیر شیرعلي خان د سرحدي کرښې د ټاکلو افغاني پولو ته راغی او اعلان یې وکړ، چې امیرشیرعلي خان په بدخشان کې واك نه لري، خو په آقچه، سرپل، میمنه، شبرغان او اندخوي کې یې واك په شك کې دی. یعنې په ترکستان باندې د روس واك ثابت دی او د افغانستان واك دده په خپل هېواد کې مشکوك! امیر شیرعلي خان د کافمان دغه تعریف رد کړ. د انګلیس د بهرنیو چارو وزیر د ۱۸۷۲ کال د اکتوبر د ۱۷ مې نېټې په خپل یادښت کې، چې د لندن د سفیر لارد لوفتس په نوم یې لیکلی و او د افغانستان خاوره یې د روس دولت ته داسې تعریف کړې وه:

۱- بدخشان او واخان له سرقول سیمې څخه د آقچې او د آمو د سیندونو د یو ځای کېدو تر سیمې (یعنې پنج سیند).

۲- شمالي پوله له کندوز، خلم او بلخ څخه نیولې د کوکچې د اتصال له نقطې څخه د خواجه صالح تر بندر پورې.

۳- آقچه، سرپل، میمنه، شبرغان او اندخوي، چې همدا د افغانستان د شمالي پولو او د هغې پورې غاړې د ترکانو آزادو قبایلو پورې اړه لري.

۴- د افغانستان د لویدیځ پولې د هرات او خراسان تر منځ روښانه دي او د ویلو اړتیا نشته.

له دې لامله، چې په دغه تعریف کې د روس او انګلیس له خوا په ۳- ۱۸۷۲ کې شوې وه د څلورم توك په ترڅ کې د (هرات او خراسان تر منځ) ټکي پوره واضح نه و او دا نه وه ښودل شوې، چې آیا د هرات سیمې کومې دي؟ نو ځکه د پنجده پېښه په ۱۸۸۵ کال کې رامنځته شوه. په ۱۸۸۲ کال کې، چې د روس او انګلیس تر منځ د افغانستان د شمالي پولو په هکله خبرو-اترو دوام موندلی و، روسیې وړاندیز کړی و، چې چمتو ده، چې د افغانستان پولې له خواجه صالح څخه تر سرخس پورې وټاکي. په دې شرط، چې د روسیې نفوذ د افغانستان او ایران په شمال کې وپېژندل شي، خو انګرېز (کرانویل) دغه وړاندیز رد کړ او هغه مهال خبرې-اترې پرې شوې.

په هر حال، د جنرال لمسدن هیئت، چې په پیل کې له هرات څخه ځومیله لرې راورسېد او بیا د کوهسان او ګلران پولو ته راغی، دوی له ذوالفقار څخه مخ په چهل دختر ان او پنجده د پولو په ټاکلو پیل وکړ او په آخره کې یې د مرغاب د سیند تر غاړو مروچاق او بیا د پنجده او پل خشتي سیمو ته ورسېدل او هلته یې د سیند جنوب ته خیمه ووهله. له دوی څخه لږ بر افغاني هیئت (قاضي سعدالدین خان، جنرال غوث الدین خان او نایب سالار تیمورشاه ځای پر ځای وو. افغاني ساتونکي له سیند څخه پورې غاړه په آق تیپه کې وو، د هیئت خبرې رواني وې.

علي خانوف قفقازي هغه دوکه مار سړی و، چې خپل ځان یې د روسانو چوپړ کې ګومارلی و او د مرو په شمال کې یې د هغوی لپاره ډېرې سرغندنې کړې وې، دا مهال په مرو کې و. نوموړی د پنجده اوسېدونکو ته له فساد ډك تبلیغ پیل کړی و او د لمسوونکې خبرې یې کولې همدغه سړي په پیل کې

بې د روسي د سرحدي معايناتو مشرتوب ترلاسه کړ، ده پسې وروسته بيا (جنرال زيلي نوي) د هيئت مشر شو، خو امير عبدالرحمن خان د روسانو د بهانې لټولو د مخنيوي په خاطر او د دولتونو ترمنځ د پولې د ګډې وډې پاتې کېدو په خاطر د هرات پوځ ته لا د مخه امر کړی و، چې له روسانو سره جګړه ونه کړي او د روسانو د هر لمسوونکي حرکت په وړاندې، چې په ميمنه او هرات باندې د بريد کولو له حده تېر وي، وسله پورته نه کړي. که چېرې روسان په پنجده باندې تيری وکړي، نو د هغه ځای ساتونکي قطعه به پرته له دفاع څخه مرغاب ته را په شا شي، خو که چېرې روسان نور هم وړاندې راشي، نو له مرغاب څخه دې ميمنې ته راشي، خو په ميمنه او هرات باندې د بريد په صورت کې دې وسلې ته لاس راچوي. (هغه مهال په هرات کې د پوځ وسلې مارتين ټوپك او ۴۲ توپونه وو)

کله، چې د روسانو پوځ په ذوالفقار او ايماق جر باندې بريد وکړ، پل خاتون يې په خوا په ۱۸۸۴ کې نيولي وو. البته افغانان له دفاع څخه منع کړل شوي وو، کله چې امير د ۱۸۸۵ کال په مارچ کې د هند خوا ته د سفر په لاره کې و، د روس د پوځ قومندانان جنرال کماروف، چې د هيئت مشر و د پولو ټاکلو د خبرو اترو پر مهال بهانې لټولې او بيا يې د پنجده افغاني افسر ته يو اخطار ليك واستاوه او د ۲۴ ساعتونو په ترڅ کې يې د پنجده پرېښودل وغوښتل. جنرال تيمورشاه، چې د امير له خوا په کلکه له دفاع څخه منع شوی و، غلی شو او د نورو راتلونکو پېښو په تمه کښېناست، په تيره بيا انګرېزانو ويل، چې روسان بريد نشي کولای. په سبا يې د باد ورځ وه او باد لګېده، چې درې زره روسي سرتيري د جنرال کماروف تر مشرۍ لاندې د پنجده په خوا راغلل، کله چې رالنډ شول او وارونه يې پيل کړل، افغاني پېنځه سوه تنو سرتېرو له خپلو افسرانو سره يو ځای د پاچا د امر برخلاف په دفاع لاس پورې کړ. دا مهال يوه غير مساوي جګړه ونښته افغانانو په ډېره مېړانه د دښمن د ډېر ځواکمن پوځ په وړاندې تر وروستۍ سلګۍ پورې جګړه وکړه. د جګړې په پای کې د افغاني پوځ ۸۳ تنه ټپيان او ۳۰۰ مړي، چې په هغو کې کرنيل شاه مرد خان، ميرآقای اجيدن او علي اكبرساجدن هم وو، په ډګر کې پراته وو. د روسانو په لښکر کې زر تنه ووژل شول او دوی لومړي ځل د افغانستان د خلكو زړورتيا وليدله. په دغه جګړه کې يوازې يو افغاني توپچي کنډك ژوندی پاتې و، چې هرات ته ستانه شول، خو د انګليس د دولت سرحدي هيئت، چې پنجده ته نږدې او د مرغاب جنوب لوري کې پراته وو. همدا چې د روسانو د پوځ له راتلو څخه خبر شول، په بېړه مخ په هرات وتښتيدل او هغه هم داسې تېښته، چې د پلنګ توش خان جمشيدي تر ساتنې لاندې راوتښتيدل او ۵۰۰ افغانيي سپور پوځ دوی راوستل. کله چې افغانانو ددې (برتمين) هيئت تېښته وليده، نو ورته ويې ويل، چې تاسې کم له کمه خپله وسله مونږ ته راکړئ، چې مونږ ورباندې دفاع وکړو، خو انګرېزانو ونه منله. فقط ځانونه يې وژغورل، خو بيا هم په دغه بېړنۍ تېښته کې د دوی ۴۲ تنه د يخنۍ له لامله مړه شول، حال دا چې دوی د تېښتې پر مهال له ډېرې بېړې خپل بار او سامان او موزې پر ځای پرېښي وو، په دې توګه پنجده، آق تيپه، چمن بيد او سليم چينه د روس دولت ونيول او د شاه خليل اوليا او د تنورسنګي سيمه د افغانستان او روسيې ترمنځ پوله وټاکل شوه. وروسته بيا لمسدن بريتانيا ته احضار کړل شوه او دهغه پر ځای ريجوي مقرر شو.

قاضي سعدالدین خان وویل، انګریزانو، چې موږ
کله، چې انګریز هیئت له سیمې څخه وتښتید، جنرال تیمور شاه
جګړې ته هڅولو ولې یې په خپله پښې سپکې کړې او موږ ته یې ښه وسله رانه کړه؟ هغه چا چې موږ په
ویل: ډېر ښه شو، چې د پنجدې جګړه وشوه او دوست او دښمن د پېژندلو شو. په انګلستان کې هم د
جنګ واچولو بیا یې یواځې پرېښودو، دوی زموږ رښتیني دوستان نه وو. خو ګلادستون خان معذور
ګلیډوستون د دولت دغه چلند د بریتانیا بې شرافتي او بې عزتي وګڼل شوه. د ستاینې
باله. دا ځکه چې په اروپا کې یې له فرانسې سره اړیکې ښې نه وې او آلمان هم د روسیې چلند
وړ باله. په دې توګه د انګلیس دولت د یوې معجزې په تمه شو، چې په خپله روسیه کې دننه اړ دور
رامنځته شي، حال دا چې د انګلیس دولت د ۱۸۸۰ کال د یوه تړون له مخې (چې د ګریفن او امیر
عبدالرحمن خان تر منځ شوی و) ژمنه کړې وه، چې په افغانستان باندې به د کوم بهرني هېواد د برید ار
تیري پر مهال انګریز مرسته وکړي، خو اوس دا دی داسې پېښه وشوه، خو انګلیس یواځې د حکمیت د
قضیې په ارجاع بسنه وکړه او بس.
په پنجده باندې د روس د یرغل انګازې په افغانستان او شا و خوا کې خورې شوې او په ټول هېواد کې
یې ولولې راوپارولې او د هېواد په ختیځ کې هم خلکو د افغانستان د دفاع لپاره ځانونه چمتو کړل. د
سوات او بونیر خلکو د محمد قاسم او احمد خان په مشرۍ خپل استازي کابل ته راواستول او ویې
لیکل، چې د اسلام د پاچا تر امر لاندې د هېواد ساتنې ته تیار یاستو. امیر عبدالرحمن خان یو ښه پوره
اورېد ځواب ور ولېږه او ورته ویې لیکل، چې: له روس دولت سره د پولو په سر شخړه پیدا شوه، خو د
هرات ښار مو ښه کلک کړ او ۲۰ لکه روپۍ او زر باره جبه خان (وسله تون) او ۴۰۰ توپچي او ۲۸ لوی
توپونه مو ور واستول او ۳۰ زره سرتیري هم لېږلو ته چمتو دي، خو روسان له پنجده وړاندې نه راځي
او پولې ټاکل کېږي، نورې راتلونکې پېښې به تاسې ته خبر درکړم. ستاسې دنده د اسلام د پاچا اطاعت
او د هغه دوست او دښمن خپل دوست او دښمن ګڼل دي. تاسې باید تل خپل ځان هوښیار او بیدار
وساتئ، خپل لیکونه ماته را استوئ همدا رنګه د سند او پنجاب له مسلمانانو، د پېښور او دېره جاتو
او باجوړ، چترال او بلوچستان څخه هم یو شمېر لیکونه راورسېدل خوقند سمرقند، او بخارا او اورګنج
څخه هم کابل ته لیکونه راورسېدل، چې د روس له دولت سره یې د افغانستان د جهاد ملاتړ ښودلی و.
امیر عبدالرحمن خان ځواب ورکړ، چې مسلمانان یو ورونه او په دفاع او جهاد مؤظف دي، خو د
افغانستان او روس د پولو قضیه اوس په سولې سره پای ته رسېدلې ده، نو تاسې باید لکه د پخوا په
شان له خپلو متبوع هېواد سره چلند وکړئ. په دې توګه امیر د خلکو له ځواک څخه د پنجدې د بېرته په
ترلاسه کولو کې کار وانخیست. په همداسې یو مهال کې د ایران حکومت په دې لټه کې شو، چې د
افغاني هشتادان سیمه ونیسي او تیری یې پیل کړ، خو افغانانو دفاع وکړه او په پای کې قضیه د
انګریزانو په حکمیت سره حل شوه، چې د ایران په ګټه پای ته ورسېده.
امیر عبدالرحمن خان، چې له افغانستان څخه لرې او روسیې په وړاندې یې د انګریزانو ضعف ولید، د
خپلو خبرو په ترڅ کې یې د وایسرا په واسطه د انګلیس سرحدي هیئت ته اعلان کړه، چې له روسیې د

جګړې د مخنیوي په خاطر حاضر دی، چې د ذوالفقار پر ځای پنجده روسیې ته ور پرېږدي. کله چې د ګلاوستون لیبرال کابینه واك څخه وغورځېده او په لندن کې واك د سالسبري محافظ کاره کابینې ته ورسېد د ۱۸۸۵م. کال د سپتمبر په لسمه د انګلیس او روس تر منځ یو پروتوکول لاسلیك او هغه سره سم انګلیسي کلنل رجوي او روسیې کلنل ګولبرك د ۱۸۸۵ کال د نوامبر په لسمه د ذوالفقار په سیمه کې سره وکتل او د پولې په ټاکلو یې پیل وکړ او د خواجه صالح په هکله اختلافات پېښ شول، کرښه وایستل شوه او د هریرود او دوشي تر منځ برید وټاکل شو، خو په دې ترڅ کې افغاني مامورینو مداخله وکړه انګرېز ګواښونه وکړل، خو ګولبرك له افغاني مامورینو سره ډېر ښه چلند کاوه، هغوی قاضي سعدالدین خان ته وویل، چې روسیه نه غواړي، چې له افغانستان څخه کومه ټوټه ځمکه ونیسي او د خلکو حقوقو ته درناوی کوي که کومه لانجه هم شته هغه له انګرېزانو سره ده، انګلیسي کمیسیون په افغانستان کې د یوه پاځون د پېښېدو له وېرې او بېرته هندوستان ته په تللو سره د نه بریالي کېدو له وېرې خپل دولت ته وړاندیز وکړ، چې له روسیې سره اړیکې ونیسي او د پولو د ټاکلو کمیسیون بېرته ور وغواړي. په پایله کې دواړو لوریو دا ومنله، چې د پولو کرښه دې د دوشي او آمو په سیمو کې، په خپله د دوی تر منځ حل شي. رجوي د ۱۸۸۷م. کال په اپریل کې پتروګراد ته ولاړ او هلته یې خبرې اترې پیل کړې، د پورتنۍ کرښې د ټاکلو په هکله اختلاف رامنځته شو، چې آیا د دوشي او آمو تر منځ له خماب او اسلام څخه او که له خواجه صالح سیمې څخه تېر شي، امیر عبدالرحمن خان خمیاب د افغانستان لپاره غوښت او رجوي هم همدا خبره منله او دده غوښتنه یې تصدیق کوله د خواجه صالح په هکله هم اختلاف پیدا شو، دا ځکه چې د ۷۲- ۱۸۷۳ په تړون کې خواجه صالح نه و توضیح شوی او روسانو خواجه صالح د یو، قبر په توګه پېژاند، حال دا، چې خواجه صالح د اسلام په نوم یوه سیمه وه. وروسته بیا روسانو وویل، چې خواجه صالح هغه سیمه ده، چې د رباط طاهر محمد (د طاهر محمد پړاو) په نوم یادېږي (له آمو سیند څخه څو میله کښته) د روس د هیئت مشر د خمیاب د پرېښودلو په وړاندې په کوشان کشك او مرغاب کې ځینې سیمې غوښتې او مروچاق او چهل دختران یې هم د افغانستان له پولو بهر پېژندلې وې.

د انګلیس دولت رجوي د مشورې لپاره لندن ته وغوښت، کله چې له هغه ځایه بېرته پتروګراد ته راستون شو او روسیې ته یې په کوشان، کشك او مرغاب کې د یو شمېر سیمو د پرېښودلو خبره یاده کړه (نو دا مهال په هرات او میمنه کې د سردار محمد ایوب خان په پلوي او د امیر عبدالرحمن خان په مخالفت کې یو نظامي پاځون وشو او امیر ډېر بوخت و.) خو ویل یې، چې چهل دختران روسیې ته نشي ور پرېښودای. روسانو دغه وړاندیز رد کړ او ریجوي هغه بل وړاندیز، چې په آمو کې یې د یو شمېر سیمو پرېښودل و، ونه منل. ریجوي وړاندیز وکړ، چې ددغې ستونزې حل دې د یوه بل دوست هېواد منځګړیتوب ته ور پرېښودل شي، خو روسانو دا خبره هم ونه منله ریجوي په روسانو باندې په قره تیپه او چهل دختران کې د افغاني کالوني ګانو د حقونو په منلو سره د مرغاب د کرښې ټاکل فیصله کړل. په دې توګه د روس د دولت پوځ په چهل دختران کې د هرات د ښار په ۴۵ میله واټن کې ځای پر ځای شو.

د آمو په سیمه کې روسانو خمیاب، د اوبو څاګانې او څړځایونه افغانستان ته ور پرېښودل او د امام نظر ځایې ځانته واخیسته، په دې توګه د ۱۸۸۷م کال د جولایي د ۲۲مې نېټې د پولې د کرښې فیصله لیك رامنځته شو. د روسیې دولت په ذوالفقار او مروچاق باندې له خپلې دعوا څخه تېر شو او سرحدي کرښه له اندخوي څخه تر خواجه صالح، بوساعه او خمیاب پورې وټاکل شوه وروسته بیا نور سرحدي خطونه هم وټاکل شول. افغانستان، چې لا تر دې مهال پورې پامیر یا د نړۍ بام او د شغنان او روشان سیمې د آمو په ښۍ غاړه کې په واك کې درلودې، په ۱۸۹۲ کې یو ځل بیا په پامیر کې د ایوانوف تر قوماندانۍ لاندې د روسي پوځ له برید سره مخامخ شو او د افغانستان ګزمه ورسره ونښته، دا ځکه چې د روسیې دولت غوښتل، چې خپل بیرغ د نړۍ د بام په څوکه ورپورې او بیا په ۱۸۹۵م. کې د روس پوځ د غند او شاخدرې له لارې مخ په شغنان وړاندې راغی او د غند، خرګوشې، مرغابې او راش په سیمه کې ځای پر ځای شول. افغاني پوځیان د پنج (آمو) د سیند څخه له هغې غاړې راغلل او د شغنان په کلا کې ځای پر ځای شول. دا مهال جارج کرزن هند څخه د کنجاب په لاره واخان او پامیر سیمې ته راغی. په لندن کې هم د روسیې له سفیر سره خبرې اترې پیل شوې او امیرعبدالرحمن خان د (غاران) د لالو دکان دفاع ته پاڅېد، لارد کرزن د پولو له کتنې وروسته د چترال په لاره باندې بېرته هند ته ستون شو. په ۱۸۹۵ کې د روس او انګلیس تر منځ روغه وشوه، چې د هغې له مخې د روس دولت یواځې د لوی پامیر لرونکی وګڼل شو په دې توګه کوچنی پامیر او واخان د افغانستان په واك کې پاتې شول دا هماغه سیمه ده، چې له چین سره افغانستان ګاونډي او د روس او انګرېز دوه استعماري دولتونه یې یو بل څخه جلا کول.

د افغانستان د شمال ختیځ پولو او د شمال کول (ویکتوریا) په خاطر د انګلیس هیئت د میجر جنرال جرارد په مشرۍ د ګلګت او کشمیر او پامیر له لارو څخه افغانستان ته راغی او د پولو د ټاکنې روسي هیئت ورسره یو ځای شو. د افغاني هیئت مشران د کشم حاکم غلام محی الدین خان او مفتني عاشور محمدخان هم ورسره یو ځای شول. د پولو د ټاکلو ټول کار د دریو میاشتو په ترځ کې بشپړ شو او د پولو د کرښې پر نقشه یې لاسلیکونه کړي وو او د پولو د نښو لګول هم پیل شوي وو. په ۱۸۹۲م. کال کې روسانو د بدخشان د درواز سیمه بېرته افغانستان ته ورکړه، ځکه چې هغو خلکو اعتصاب کړی و او د شغنان افغاني حاکم داراب شاه خان ته یې یو لیك راواستاوه په لیك کې راغلي وو، چې د غاښې، کوفا او واهان درې سیمې، چې په درواز. او شان او شغنان پورې تړلې سیمې وې او روسانو نیولې وې، هغه بېرته د تلې د میاشتې په ۱۸مه نېټه افغانستان ته وسپارل شوې. په دې توګه د افغانستان دولت د آمو په شمال کې له خپلو نیول شویو سیمو څخه تېر شو او د روس دولت هم د آمو په جنوب کې په ځینو سیمو له خپلې دعوا څخه تېر شو په هر حال، د افغانستان او روسیې پولې وټاکل شوې، په داسې حال کې، چې افغانستان د آمو په چپ اړخ کې درواز ترلاسه او ویې ساته، خو د آمو په ښي غاړه کې یې د شغنان او روشان یوه برخه له لاسه ورکړه او هغه یې بخارا ته ورکړه، په دې توګه افغانستان له روسیې سره له سرحدي شخړې څخه خلاص شو.

Scanned by CamScanner

## له ایران سره اړیکې

افغانستان له ایران سره خپلې ناپېیلې، خو دوستانه اړیکې ساتلې او په مشهد کې یو د سوداګریزو چارو استازی د تجارباشي په نوم او یو بل استازی د «واقعه نګار» په نوم درلودل. سره له دې، چې لږ وروسته د ایران دولت هڅې وکړې، چې افغاني واقعه نګاران له مشهد څخه وباسي، خو امیرعبدالرحمن خان ډېر ټینګار وکړ او په لیکلې بڼه یې د ایران حکومت قانع کړ، چې په ایران کې د افغاني واقعه نګارانو شتون د ایران په زیان نه، بلکې په ګټه یې دی او د دوو مسلمانو هېوادونو تر منځ د ښوو اړیکو لپاره غوره دی، خو بیا هم د ایران قاجاري دولت په خپله د افغانستان په زیان یا ګټه نه شمېرل کېده، دا ځکه چې له یوې خوا په تهران کې د روسیې د پور ورکوونکي بانك د شتون او هلته د قزاقخانې د پرانیستل کېدو له امله او له بلې خوا د روس په لاس د ګومارل شویو بلجیمیانو لاس ته د ایران د ګمرکونو سپارل کېدلو له امله ایران په بشپړ ډول د روس لاس پوځی شوی و او د بهرنیو پورونو تر بار لاندې راغلی و او د ایران صدراعظم علي اصغر او پاچا دواړه روس پاله وو. په دې توګه دغه هېواد په بشپړه توګه د روسیې تر اغېزې لاندې و او افغانستان په دې خبره باندې پوهېده. همدا رنګه د انګلیس دولت په تهران کې د شاهي بانك په لرلو سره او د کارون په سیند کې د بېړۍ چلولو د حق په ترلاسه کولو سره او د تمباکو او نورو تولیداتو په انحصار کې لرلو سره د ایران په کورنیو چارو کې پوره لاس درلود، خو سره له دې ټولو کله چې د ایران دولت ولیدل، چې افغانستان د پولو د کرښو په ټاکلو کې بوخت شوی دی، نو په ۱۸۸۵ کال یې د هشتادان په جلګه باندې تېری وکړ. هشتادان د افغانستان تاریخي خاوره وه او د ابدالي احمدشاه (۱۷۴۹ م.) راهیسې د هرات د کهسان اړونده یوه سیمه وه. افغانستان په ډېره آسانۍ د ایران تېري ته ځواب ورکړ، خو شخړې لا دوام وموند. د ایران حکومت د پاریس د ۱۸۵۷ م. کال د تړون له مخې په دغه موضوع کې د انګلیس د حکومت د منځګړیتوب غوښتونکی شو. د حکم هیئت مشر په مشهد کې د انګلیس د دولت جنرال قنسل (مکلین) وټاکل شو. د افغانستان د هیئت مشري د جنرال غوث الدین په غاړه وه او د ایراني هیئت مشري د مرزا محب علي په غاړه وه. خبرې اترې پېنځه میاشتې اوږدې شوې او په پای کې انګرېزان، چې د ایران د دولت له ضعف څخه خبر و او د افغانستان له قدرت څخه ویرېدل، د هشتادان د پېښې په چل کې یې د ایران پلوي وکړه. انګلیسي جنرل قونسل فیصله وکړه، چې د (فرزنه او کُرمه) په هکله، چې ایران نیولي دي هېڅ خبرې ونشي، خو د (سنګ دختر او شوراب) موضوع، چې افغانستان نیولي باید تر بحث لاندې ونیول شي. افغاني هیئت موافقه ونه کړه، امیر عبدالرحمن خان نرمښت وښود او جنرال غوث الدین خان یې غلی کړ. انګلیسي هیئت د هشتادان موضوع لکه د سیستان په شان د ایران په ګټه فیصله کړه. په دې ډول سره ایوبي ښیرازه سیمه او آباد کاریزونه ټول ایران ته ورکړل شول. افغانستان ته یوازې یوولس نړېدلې کاریزونه پاتې شول.

په ۱۸۸۸ کې کله، چې امیر محمد یعقوب خان په بلخ کې د سردار محمداسحق خان د پاڅون په پېښه کې ډېر کلك بوخت پاتې شوی و، د هشتادان په هکله تړون لاسلیك شو. په نمکسار کې (د خواف او

غوریانو تر منځ) سرحدي نښه په (تیغه سر) باندې ولګول شوه. د انګرېزانو دغه سیاست کامیاب شو، ځکه چې دواړه وتوانېدل په غیر عادلانه قضاوت سره د ایران او افغانستان تر منځ یوه داسې بدبیني او د ښمني پیدا کړي، چې په آسانه ورکه نشي او د ښکېلاکګرو په وړاندې یوه قوي اتحادیه جوړه نشي او له همدې لامله د ایران او افغانستان تر منځ د خلکو تګ راتګ، چې پخوا آزادو، وروسته تر ۱۸۹۵ کال څخه د تیرېدو په تذکره پورې وتړل شو او د هر ژر د دوو هېوادونو د وروری او دوستۍ اړیکې خړې پړې شوې. دغه سوړ وضعیت د شلمې پېړۍ تر پیل (د افغان- انګلیس) تر دریم جنګ پورې روان و.

## د انګلیس له دولت سره اړیکې

د افغانستان خلکو له انګرېزانو سره له دوو جګړو وروسته هغه خپل یو دوکه مار دښمن باله، نو ځکه امیر عبدالرحمن خان هم د هېواد دننه د هغه هېواد له اقتصادي امتیاز او سیاسي نفوذ څخه په اندېښنه کې و، خو امیر په بهرني سیاست کې د روس د دولت په وفاداري باندې ډاډه نه و، نو ځکه د انګلیس دولت ته لېوال و، خو دغه یو اړخیزه لېوالتیا له اندازې زیاته وه. امیر عبدالرحمن خان د اقتصادي او سیاست له پلوه افغانستان انګلیس ته اړ باله، همدا غلط حساب و، چې د ۱۸۸۰ د تړون او وروسته بیا په ۱۸۹۳ کې د ډیورنډ د تړون لامل شو. حال دا، چې د انګلیس دولت په نړېوال سیاست یواځې پانګې او په وچه کې د روسانو له لوی قدرت څخه په ویره کې و او افغانستان د منځنۍ آسیا د هېوادونو په برخلیك تاکنه کې او د سیمې د سیاست په هکله ډېر زیات ارزښت درلود، خو امیر عبدالرحمن خان افغانستان ته د خپل راتګ له پیل څخه بیاتر پایه د انګلیس د دوکه مار سیاست په وړاندې تیروتنه کوله، سره له دې، چې د افغانستان ولسي پاڅونونو د انګرېز په وړاندې ډېر بریالیتوب درلود، خو بیا هم دغې تیروتنې دوام درلود، بیا هم نه انګرېزانو د امیرعبدالرحمن خان په دوستۍ باور درلود او نه هم امیر عبدالرحمن خان د انګرېزانو په دوستۍ، نو د دواړو لوریو تر منځ سیاسي مبارزه روانه وه. دغه مبارزه په هغه مهال ودرېده، چې د هند خوا ته به د روسانو د پرمختګ خطر ولیدل شو او انګلیس به خان افغانستان ته اړ ولید. کله به چې انګرېزان د روسانو له اندېښنې څخه ډاډمن و، نو د افغانستان د دولت او ولسونو د خوارولو په هکله یې له هېڅ وسیلې څخه ډډه نه کوله، تر څو د انګرېزانو په وړاندې مقاومت له منځه یوسي. په افغانستان کې به یې فساد جوړولو ته لاره هواروله او خپل لاسپوځي (د سردار ولي محمد لاتي زوی سردار نور محمد، د لاتي وراره سردار پیرمحمد خان، د محمد شریف خان لمسۍ سردار باز محمد خان د وزیر فتح خان لمسی سردار محمد حسن خان سعدوي کړوخېل او نور) به یې له پیسو، وسلو سره رالېږل او په لمسون او د اړ دوړ په جوړولو به لګیا کېدل، تر څو مرکزي دولت بوخت او ضعیف کړي، له بلې خوا له مرکز څخه تښتېدونکي فیوډالان یې په افغانستان کې اغتشاش او اړ-دوړ جوړولو ته لمسول. په پای کې انګرېزانو سردار محمد ایوب خان له ایران څخه په بندي دول ترلاسه او لاهور کې یې مېشت کړ او امیر عبدالرحمن خان یې په یوه اوږده ویره کې واچاوه، د انګرېز دولت سردار محمد ایوب خان، سردار محمدهاشم خان او د دوی خپلوانو ته د میاشتې ۳۳ زره کلدارې

معاش ورکاوه. دا یواځې نه، له انګلیسي هند څخه به کتابتونه، خپرونې، رسالې او خرافاتي نقشې لکه د سیلاو په شان افغانستان ته روانې وې او د هېواد ځوانان یې په اوهامو، پال کتنې او اساطیرو کې نښلول او د سحر او جادو او کوډو په لومو کې یې غورځول د بېلګې په توګه هر کال به له هند څخه یواځې په کندهار کې د کندهار د والي سردار عبدالله په یو شپږ سوه کسیز کنډک کې د کوي د ناروغی تلفات ۳۲۹ تنه شول، یعنې له نیمایي زیات مړه شول، همدا رنګه د انګرېزانو جاسوسانو به د افغانستان په خلکو کې د نفاق اور لګاوه او سیمه ییزې جګړې یې خورولې، خو کله چې امیر عبدالرحمن خان د انګرېز په وړاندې د خلکو ډېره کلکه کرکه ولیده او د انګرېزانو په وړاندې یې هېواد په ختیزو آزادو سرحداتو کې د جهاد روحیه لیدله، نو یو شمېر کتابونه یې خپاره کړل او خان یې (د خدای سیوری او د شریعت د مجاهدینو ملاتړ کوونکی) او (ضیاء الملت والدین) معرفي کاوه. هغه به په څرګنده په خپلو دربارونو کې د انګلیس د دولت د بې وفایي او له اسلام سره د هغوی د دښمنۍ په هکله خبرې کولې خلکو ته یې زړه ورکاوه. امیر په کابل کې ډېر هغه مجرمین په دې نوم اعدام کړل چې ګوا کې په ماښام کې د انګرېزانو د سفارت له مخې په سړک کې لیدل شوي دي او یا هم د هغه د کور له دروازې څخه انګلیسي لیك موندل شوی دی، همدا رنګه امیر به خلکو ته له انګرېزانو سره په معاملاتو کې د هغوی دوه مخی چلند ورته څرګنداوه. امیر ۱۸۸۵ کې په خپلو هغو لومړنیو خبرو کې، چې له وایسرا سره یې وکړې وویل، چې د انګلیس دولت په پېښور کې زما د دښمنانو ملاتړ کوي او هغوی خلك زما په وړاندې راپاڅوي. همدا رنګه په ۱۸۸۷ کې یې په هند کې د افغانستان د سفیر امیرمحمدخان په لاس د انګلیس حکومت ته یو یادښت وسپاره په هغه کې یې ویلي و، چې په کافرستان کې پناه اخیستونکي اړ-دوړ کوونکي دې افغانستان ته وسپارل شي، که نه پرته له هغه به د افغانستان پوځ له پولو هاخوا هغوی پسې ورشي امیرعبدالرحمن خان د افغانستان د آزاد سرحد د خلکو مشرانو ته مالي مرسته ورکوله او خلکو سره یې د وسلو په هکله مرسته کوله تر څو یې د انګرېزانو په وړاندې وکاروي، په سرحد کې د انګرېزانو یو نامتو دښمن نامتو مجاهد ملا نجم الدین اخند زاده و، چې د امیر له لوري پیاوړی کېده او مرسته ورته رسول کېده. ملا نجم الدین، چې د هډې په آخوند صاحب سره یادېده یو با عمله عالم او لکه د خپل مرشد ملا عبدالغفور په شان (چې د سوات اخوند صاحب بلل کېده) سرغندوی مجاهد او د پرنګي استعمار دښمن و. د هغه مرشد خانقا او لوی لنګر درلود، چې د ولسي مجاهدینو مرکز و او انګرېزانو سره یې ډېرې جګړې وکړې، تر څو چې ستومانه او له کاره ولوید، خو ملا نجم الدین صاحب په سرحد کې له یوه کلك سیال (پیر مانکي) سره مخامخو، چې د (اهل سبابه) د طریقت د لړلو له کبله یې ملا نجم الدین کافر باله. امیرعبدالرحمن خان ډېره هڅه وکړه، چې دغه شخړه هواره کړي، ځکه چې د دین له اصولو سره یې کومه اړیکه نه درلوده، همدا رنګه امیر په کابل کې د انګرېزانو په ضد دحضور د پښتو لیکوال ملا محمد خان په قلم په پښتو ژبه تبلیغي رسالې لیکلې او د دولت په مطبعه کې به چاپ او آزادو سرحداتو کې به ویشل کېدې. ددغو سیاسي مبارزو سره سره (چې د امیر او انګلیس تر منځ روانې وې) په رسمي اړیکو کې دواړه خواوو له

Scanned by CamScanner

احتیاط څخه کار واخیست، انګریزانو به د خپلي اړتیا پر مهال د امیر عبدالرحمن خان غوښتنو ته پام اړاوه، خو د نه اړتیا پر مهال به یې ځان تیر ایست. په ۱۸۸۵م. کال کې، چې په سرحدي خبرو کې د افغانستان او د روس د دولت تر منځ سیاسي فضا خړه-پړه او د نظامي ټکر ګوانښ پېښ شو، د انګلیس حکومت امیر عبدالرحمن خان ته په ډېره مینه او درنښت سره هند ته د وردتګ بلنه ورکړه. کله چې امیر د ۱۸۸۵ کال د مارچ په پای کې راولپنډۍ ته ورسېد، لارد دو فرین د هند وایسرا اله کلکتې څخه د هغه د کتنې لپاره راغی. دوك ودشسن انګلند، د پوځ درې لوی قوماندان هندو شهزاده ګان او د هند د حکومت د شورا غړي ټول موجود وو. د افغانستان پاچا ته د ۲۱ توپونو ډزې وشوې. خبرې-اترې د پینځو غونډو په ترځ کې په لسو ورځو کې پای ته ورسېدې. هغه میلمستیا، چې د امیر په ویاړ جوړه شوې وه، په هغې کې د هند وایسرا د امیر ښي لاس ته او یو انګلیسي شهزاده یې کیڼ لاس ته ناست وو. په وروستۍ غونډه کې د انګلیس د حکومت ۱۴۰۰ تنه مامورین، افسران او راجه ګان او نوابان راغونډ شوي وو، دا هغه مهال، چې د روس پوځ د افغانستان په پنجده باندې برید کړی و او د انګلیس د پولي ټاکنې هیئت مخ په هرات تښتېدلی و او د هند حکومت د افغانستان له لارې څخه په هندوستان باندې د روس د تیري په فکر کې په وېره کې لویدلی و، نو ځکه یې ځان د افغانستان پاچا پورې نښلولی و.

په لومړنۍ غونډه کې وایسرا امیرعبدالرحمن خان ته وویل که چېرې د روس دولت برید وکړ، تاسې د انګلیس په دولت باندې باور وکړئ، امیر په ځواب کې ورته وویل: زه به باور وکړم، خو د افغانستان د خلکو د باور لپاره ډېر وخت ته اړتیا ده. وایسرا د روس په وړاندې د هرات د ټینګښت په خاطر د انګلیس د مرستې وړاندیز وکړ. امیر دا خبره ونه منله او ورته ویې ویل، چې د افغانستان د خلکو له سلا-مشورې پرته په هېواد کې د انګرېزانو لښکر راوستل ناممکن کار دی، خو د انګلیس، حکومت د نظامي مهماتو او د وسلې مرستې د منلو وړ ده. وایسرا وویل که چېرې د رایفل ټوپك ولرئ برید شنډولای شئ؟ امیر وویل: د شنډولو خبره نشم کولای، خو هڅې به وکړو. وایسرا وپوښتل که چېرې لږې ویشتونکي لوی توپونه درکړل شي، هرات ته یې رسولای شئ؟ امیر ځواب ورکړ، چې: ممکنه ده. وایسرا د (تل بنګي) په هکله وپوښتل، چې په هرات باندې حاکمه سیمه ده، امیر وویل: تل بنګي لرې ده، خو مصلا نږدې ده. ما امر وکړ، چې د هغې لاندې نقبونه کېښودل شي، تر څو د روس د یرغل پر مهال ونړول شي. وایسرا په افغانستان کې د مېشت انګلیسي هیئت په وړاندې د خطر په هکله خپله اندېښنه څرګنده کړه، خو امیر د هیئت د مصئونیت په هکله ورته ډاډ ورکړ. په دوهمه غونډه کې وایسرا د لندن له هدایت سره سم امیر ته وویل چې: روسانو په افغانستان باندې برید کړی دی او تاسې لا تر اوسه پورې دفاع ته ځان نه دی چمتو کړی او د انګرېزانو لښکر هم نه منئ، که چېرې مو افغانستان له لاسه ورکړ، بیا نو له انګلیس څخه د مرستې غوښتنه بې ګټې ده، اوس نو ددې چاره له تاسو څخه پوښتم. امیر ځواب ورکړ: اوس چې داسې ده، نو زه یوه ټوټه خاوره چې په هغې باندې مو ورسره شخړه ده د روس دولت ته ور پرېږدم، تر څو چې زه د هېواد دننه ورته ځان چمتو کړم او تاسې به هم په مصر کې

له ځینو ځنځیرو څخه را وزګار شئ. دغه کار ته اته کاله وخت په کار دی، تر څو زه ځان چمتو کړم او د هېواد
پولې ټینګې کړم، خو تر هغه مهال پورې به له روس سره د جګړې وخت له لاسه ووځي. دا ځکه چې همدا
اوس د منځنۍ آسیا ټول مسلمانان زما فرمان ته په تمه دي، چې د روس په وړاندې جهاد او جګړه پیل
کړو. امیر دغه خبره ځکه کوله، چې په ۱۸۸۱م. کال کې د اورګنج خان هرات ته یو استازی او لیک لېږلی
و او د روس دولت ته یې له خپل اطاعت څخه کرکه ښودلې وه او د افغانستان دولت ته یې د خپل
اطاعت لېوالتیا څرګنده کړې وه او د افغانستان له دولت څخه یې مرسته غوښتې وه. امیر هغه ته لیک،
سوغاتونه، شال، کمخاب او د خوارزم مشران او خانان لکه عبدالرحیم خان او نور ور واستول او هغه یې
په تمه کړي و. همدا رنګه په ۱۸۸۲ کې د مروې د ولایت رئیس مخدوم قلي خان کابل ته یو لیک
واستاوه او مروه یې د افغانستان برخه بللې وه او له افغانستان سره یې د هغې د یو ځای کېدو هیله
څرګنده کړې وه. امیر هغه هم په تمه کړ او په راتلونکي کې یې د مساعد فرصت ژمنه ورسره کړې وه او
ورته ویلي یې وو، چې تر هغه وخته پورې د روس له دولت سره ګوزاره وکړئ. آن دا چې د خوقند رئیس
خدایار خان، چې په ارنبورګ کې له روسانو سره و، هم راوتښتید او ځان یې د افغانستان غیږې ته را
ورساوه او بیا هرات کې مړ شو، نو په اتو راتلونکو کلونو کې به روسان هغوی په قطعي توګه محکوم
کړي، خو افغانستان به تر هغه وخته پورې پیاوړی شي او له ځان څخه د دفاع جوګه به شي. زه پخوا په
پنجده باندې د روسیې له دغه برید څخه خبر وم، خو انګرېزانو زما خبرې ته غوږ ونه نیو او څلور کاله
وخت له لاسه ووت او اوس هم د انګلیس حکومت په پېښور کې زما د دښمنانو ملاتړ کوي او هغوی
خلک زما په وړاندې پاڅوي، نو ځکه زما پوځ د هغوی په کرارولو کې بوخت دي، نه له روس څخه په
دفاع کې. وایسرا د امیر عبدالرحمن خان ددې منطق په وړاندې وویل: هر هغه څه چې تاسې وایاست
هغسې کوم.

په دریمه غونډه کې امیر وویل: کله چې افغانستان غواړي وسله وپیري، د انګلیس دولت باید د هغو د
راوړلو مخه ونه نیسي او په لندن کې د صنایعو په څانګه کې افغاني محصلان ومني او یا ته د کان
متخصصین او د استحکام انجنیران راولېږي. وایسرا ومنله او د پېنځه زره بغل پر ټوپکو د ورکولو
ژمنه یې وکړه. د همدې غونډې له مخې امیر پېنځه پنځوس زره دانپور او بغل پر ټوپکونه او لس پیلي
او ګاوي توپچي او زیات شمېر جبه خانې له انګرېزانو څخه وپیرودله او نظامي مرستې یې هم ورڅخه
ترلاسه کړې. امیر ۲۲ پیلان هم له هغه څخه وپیرودل او د هر پیل بیه لس زره هندي کالداري وې.

څلورمه غونډه په میلمستیا تېره شوه، پېنځمه غونډه د خدای پامانۍ وه، چې امیرعبدالرحمن د
۱۴۰۰ تنو تر مخې وویل: د انګلیس دولت ژمنه وکړه، چې که چېرې کوم بهرنی دښمن پر افغانستان
تیری کوي، نو افغانستان سره به مرسته کوي، زه هم ژمنه کوم، چې که چېرې انګلیسي هندوستان له
کوم خطر سره مخامخ شي، افغانستان کولای شي او ددې وس هم لري، چې له انګلیس دولت سره مرسته
وکړي. کله چې امیر عبدالرحمن خان افغانستان ته راغی، انګرېزانو په ډېره بېړه امیر ته د ملکې
ویکتوریا له لیک سره یو ځای د «رئیس دلاور اعظم احترامي طبقه اعلی ستاره هند» لقب ورکړ. تر هغه

Scanned by CamScanner

وخته پورې جنرال لمسدن د روس د برید له ویرې څخه د هرات ډېره ښکلې، تاریخي او بیساري مصلا
نړولې وه، خو د هرات خلك د دوی له دغه وحشیانه کار څخه په غوسه شول او غونډه یې جوړه کړه او
انګرېزانو ته یې سپکې-سپورې وویلې او د هغوی مخالفت یې وکړ، تر څو د هرات والي د دولت پلوه
ملایانو او روحانیونو څخه لکه د میان محمدعمر، د ښار قاضي، د ګازرګاه میر حاجي عوض کرباسي
او نورو څخه د مصلا د نړولو د اړتیا شرعي فتوا واخیسته او خلکو ته یې وړاندې کړه او د هغوی غوسه
یې کمه کړه. مرزا فیض محمد د دولت رسمي تاریخي لیکوال د سراج التواریخ د درېیم ټوك په ۴۲۸ مخ
کې امیر ته د پورتني لقب د ورکولو شرحه داسې راوړې ده:

"... د رمضان په ۲۲مه د جناب مواحدت جوانب ملکه معظمه علیا حضرتې ویکتوریا قیصرې د هند د
سواد اعظم له خوا اعلیحضرت والا ته د رئیس دلاور اعظم احترامي طبقه اعلای ستاره هند د اوچت
انتساب خطاب وشو، چې د معظمې علیا حضرتې لاسلیك ورسره و او دغه خطاب پکې راغلی و او په
یوه شنه ورېښمین مخملي پوښ کې یوه صندوقچه د دولتونو د دوستۍ په توګه او د دواړو طرفو د
یو والي له مخې راورسېده، چې په پارسي باندې له انګلیس څخه د دغه لیك ژباړه داسې ده. علیا
حضرتې معظمې قیصرې د هند ویکتوریا د آیرلند او لویې بریتانیا د متحده ملکونو ملکې د هند
قیصرې او د دین حامي د افغانستان او د هغه د شا و خوا متعلقه حدودو امیر عالي جناب عبدالرحمن
خان ته سلام استوي. له دې لامله چې مونږ په دولت کې غوره وبلله، چې تاسې ته د رئیس دلاور اعظم
احترامي طبقه اعلای ستاره هند لقب در کړو او تاسې ته اجازه ده، چې دغه رتبه وساتئ او د هغې ټولو
جزئي او کلي حقونو څخه چې له دغې رتبې سره تړلي دي ګټه واخلئ. زمونږ په لاسلیك او زمونږ د دولت
په مهر نن د ۱۸۸۵ کال د اپریل په ۱۱مه او په تخت باندې د کېښناستو د ۴۸ کال په مناسبت دغه
فرمان صادر شو"

څه نا څه خلوېښت کاله وروسته د امیر عبدالرحمن خان لمسي (شاه امان الله خان) دغه کرښې د سراج
التواریخ په درېیم ټوك کې مطالعه کړې او د خپل نیکه د تحمل او د انګلیس له چلند څخه په غوسه شو
امر یې وکړ، چې د دغه نابشپړ جلد ټولې برخې دې وسوځول شي او د دې پر ځای دې د افغانستان پر
واقعي تاریخي ولیکل شي، حال دا چې د دغه کتاب لیکنې ټولې په خپله د افغانستان د تاریخ ځینې
برخې وې او د افغانستان د نولسمې پېړۍ د تاریخ یوه مهمه برخه شمېرل کېده، خو دغه ناپشپړ کتاب،
چې د امیرعبدالرحمن خان د ۱۴ کلن سلطنت د پېښو لرونکی و او په ۱۹۱۴م. (۱۳۳۳هـ.ق) د کابل د
ماشین خانې په مطبعه کې چاپ شوی و، ټول ونه سوځول شو، بلکې یو شمېر نسخې یې د خلکو لاس ته
ورغلې.

د پنجدې له پېښې او له هند څخه کابل ته د امیر عبدالرحمن خان د بېرته ستنېدو څخه وروسته، روسیه
له پنجدې څخه وړاندې رانغله. امیر کلنل ستورات او یوه انګلیسي انجنیر ته اجازه ورکړل شوه، چې
هرات ښار له نظامي پلوه معاینه کړ. انګرېزانو د ښار د ټینګښت او ترمیم لپاره څلور سوه زره روپۍ
ورکړې او هیله یې وکړه اجازه ورکړل شي، تر څو څو تنه انګرېز توپچي افسران هم هرات ته راشي او

دېې ګوري او هم به یو انګرېزي طبیب او یو انجنیر د انګلیسي هیئت دبېرته ستنېدلو څخه وروسته
سرحدونو کې پاتې شي. امیر عبدالرحمن خان دغه وروستي وړاندیز د لنډ وخت لپاره ومانه او د هغوی
د ساتنې زمنه یې وکړه. دا ځکه چې د خلکو نظریاتو ته په کتنې سره امیر نشو کولای، چې په افغانستان
کې انګرېز نژاده وګړي د تل لپاره مېشت کړي له همدې لامله د افغان-انګلیس تر دریم جنګ (۱۹۱۹)
پورې د انګلیس سفیران په کابل کې او د هغوی استازي په کندهار او هرات کې د واقعه نګار په نوم
ګومارل شوي او دوی ټول مسلمانان وو، خو د هغوی پټ فساد او مضریت له خالصه انګرېزانو څخه لا
زیات و. د انګرېزانو لومړنی واقعه نګار په هرات کې مرزا محمد تقي و، چې هلته یې د سني او شیعه
تر منځ تفرقې اچولې. وروسته تر هغه څخه قاضي محمد اسلم، بیا محمد حسن افشار، محمد ابراهیم
رساله دار (هندي)، بهاو الدین، مرزا یعقوب علي او نور راغلل. په کندهار کې هم داسې و. د انګرېزانو
واقعه نګارانو به فتنې او فساد اچاوه او ستونزې به یې پیدا کولې، د بېلګې په توګه ۱۸۹۱ کال کې بیا
انګلیسي واقعه نګار مرزا تقي د سني او شیعه تر منځ د مذهبي اختلافاتو او نفاق خبره راپورته کړه او
په مصنوعي توګه یې د یوه (اقلیت) په جوړولو کې هڅې وکړې، خو دولت ته داسې اسناد په لاس
ورغلل، چې د هغو له مخې یې د دسیسه جوړوونکي ونیول. همدا رنګه امیرعبدالرحمن، د بدخشان له
لارې څخه چین ته د یوه انګرېز نماینده د تلو اجازه ورکړه او (الایس) په همدغه لاره باندې تېر شو. په
۱۸۸۲ کال کې د روس او انګرېز هیئتونو له ذوالفقار څخه د روس او د افغانستان تر منځ د پولې د نښو
په ایښودلو پیل وکړ. همدا رنګه په پېښور کې افغاني ډاګ پرانیستل شو او ولي محمد لاتي له پېښور
څخه هرې پور ته وشړل شو. هغه حربي فابریکه، چې له اروپا څخه پیرودل شوې وه، د فرانسې له دولت
څخه د استخدام شویو په لاس، چې (مسیو شورن ګریشکر) نومېدل کابل ته راوړل شوه او دلته ودرول
شوه هغه مهال افغانستان کې یو شمېر بهرنې کار کوونکي وو، چې هر یوه په ځانګړو تخصصي څانګو
کې کارونه پر مخ بیول، د بېلګې په توګه څو تنه انګرېزان، دوه تنه چینایي کان پېژندونکي او څو تنه
هندیان او نور. دغو زیاترو کار کوونکو د میاشتې شاوخوا ۴۴۰ هندي کالداري معاشونه لرل. د
افغانستان حکومت په ۱۸۸۸ کې روسیې ته د څارویو صادرول منع کړل، همدا مهال امیر عبدالرحمن
خان په چمن کې د انګلیس په لاس د ریل پټلۍ ستیشن له جوړولو سره مخالفت وکړ.
په هر حال، له دې لامله چې د روسیې او افغانستان تر منځ د پولو مسئله له ۱۸۸۵ څخه تر ۱۸۸۷ کال
پورې حل شوه او د روس دولت په خپلو نویو پولو کې کې ځای پر ځای ودرېد، نو دا مهال د انګلیس
دولت ډاډه شو او له افغانستان سره ملګرتوب ته یې اړتیا هم کمه شوه، نو یې په افغانستان کې د
پرمختګ سیاست ته ملا وتړله او د روان نرم چلند پر ځای یې پخوانی له دښمنۍ ډک چلند غوره کړ. په
تېره بیا هغه مهال، چې د دوی د وسپنې پټلۍ له کویټې او پښین څخه تیره او د خواجه عمران تر غاښې
پورې رسېدلې وه او کندهار یې په سیده توګه تر ګواښ لاندې راوستی و، انګرېزانو په دوامدار ډول
غوښتل، چې د هند په شمال لویدیځ کې خپل سرحدات له نظامي پلوه پیاوړي کړي، دا ځکه چې دوی
غوښتل، چې له افغانستان سره په یوه بله جګړه کې باید خپل نیم ځواکونه په افغاني آزادو سرحداتو

Scanned by CamScanner

کې بوخت کړي، تر څو د انګرېزانو د لښکر مواصلاتي او مخابراتي کرښې د شاله لوري پرې نشي
ځکه انګرېزانو دې ته اړتيا لرله، چې د سليمان غره په لړۍ کې د هندوستان سرحد په کرښه باندې
نظامي استحکامات جوړ کړي. دا کار په خپله ددې لامل کېده، چې دوی دلته په دغه سيمه کې له
افغانانو سره مخامخ شي او دا هماغه افغانان وو، چې د اوږدو کلونو په ترڅ کې يې انګرېزانو ته دران
تلفات اړولي وو. د افغان-روس د سرحدي کرښې له ټاکل کېدو څخه وروسته جنرال رابرتس په ۱۸۸۸
کې د آزادو سرحداتو د خلکو په ځپلو پيل وکړ او په هند کې د انګرېزانو په نظامي تشکيلاتو باندې بيا
کتنه وشوه. د انګرېزانو په اردو کې د پرش زره تنه نور ور زيات شول او کويټه، اټک او راولپنډۍ د
دفاعي کلاوو بڼه خپله کړه. دا مهال د انګرېزانو سوقيات د يوسفزيو، اورکزيو او نورو پښتنو په
وړاندې په سرحد کې پيل شول او رسمي او سخته بڼه يې غوره کړه او تر ۱۸۹۴ پورې يې دوام وکړ او د
ګلګت، چترال او دير د علاقو وروستۍ سيمې يې ونيولې. د افغانستان د دولت مامورين د بلندخېل،
وانه او ټل په سيمه کې د انګرېزانو تر بريد لاندې راغلل. سره له دې، چې ګل محمدخان چې په وانه کې
و د امير په امر له هغه ځايه برمل ته او بيا له هغه ځايه کمواز ته را په شا شو او په دې تمه شو، چې
انګرېزانو سره سرحدي چارې يو اړخيزه کړي په داسې حال کې، چې په ۱۸۸۸ کې د کُرمې خلکو د
پکتيا د والي د سردار شيرينډل خان په خوله اميرعبدالرحمن خان ته دغه وړانديز واستاوه، چې مونږ د
افغانستان اتباع وو او وروسته تر دې هم ياستو، تاسې مونږ د انګرېزانو له قلمرو څخه جلا او له
افغانستان سره مو يو ځای کړئ، خو امير ځواب ورکړ، چې امير محمد يعقوب خان د کُرمې سيمه د
انګليس دولت ته ورکړې او زه نشم کولای، چې په دې هکله له انګرېزانو سره مخامخ شم، تاسې په دې
ځان له انګرېزانو څخه خپلواک کړئ. همدا رنګه په ۱۸۹۰ کال کې د اپريديو ۱۴۲ تنه استازي امير ته
راغلل او په انګرېزي چوڼيو باندې يې د بريد کولو په هکله ورڅخه لارښوونه وغوښته، خو امير ډډه
وکړه. بلوڅانو هم تر دې مهال پورې افغانستان سره خپلې اړيکې ساتلې وې، آن دا چې د خاران د
بلوڅانو مشر نوروز خان تر ۱۸۹۳ پورې مهار شوي اوښان او خرما هر کال له افغانستان سره د اړيکو
په توګه د کابل دربار ته استول. خو لا هم امير په رسمي توګه ددغو خلکو له غوښتنو څخه ډډه کوله
امير همدغه چلند د باجوړ، تيرا، وزيرو، مسعودو او نورو ټولو خلکو سره وکړ. دا ټول ددې لامل شول،
چې د آزادو سرحداتو اوسېدونکي ټول په خپله د امير د چلند له کبله خپه او زړونه يې مات شول او په
پای کې يې د انګرېزانو اطاعت ته غاړه کېښوده. په همدې حال کې انګرېزانو د سرحد په مهمو سيمو
لکه (تروه) هغې ناوه کې، چې له ګومل څخه په لږ واټن کې دې خوا ته ده) څلور غونډه پلي او سپاره
سرتيري، يو د ملېشا سرتيرو کنډک او شپږ توپونه ودرول او په باجوړ او چترال کې يې نفاق او کورنۍ
شخړې پيل کړې.

## د ډیورنډ تړون (۱۸۹۳)

د ډیورنډ تړون (۱۸۹۳) مخکې تر دې، چې انګرېزان د ډیورنډ د تړون خبره رامخکې کړي، لومړی یې د افغانستان په پولو کې وضعیت په خپله ګټه خړ-پړ کړی و او د خلکو تر منځ یې ډېرې وینې بهولې وې او دا هڅه یې کوله، چې ددغو فتنو او بې اتفاقیو په اصلاح کې ځان مصلح، د خلکو خیر غوښتونکی او د روغې-جوړې مرجع ښکاره کړي. د بېلګې په توګه دوی یو شمېر توري خلك وګومارل، چې د پتالا د خلکو په ځمکو کې یوه نوې ویاله وباسي، نو ځکه د پتالا ځمکوال د توریانو په وړاندې پاڅېدل، په دې توګه ډېرې شخړې او ښتې وشوې. په ختیزه جبهه کې انګرېزانو یو شمېر اعلانونه خپاره کړل او خلکو ته یې وویل، چې انګرېزان به د افغانستان سرحدي معاش اخیستونکو ساتونکو ته دوه برابره معاش ورکړي، په دې شرط چې د انګلیس دولت ته خپل اطاعت لیك وړاندې کړي، کله چې امیر عبدالرحمن خان دغه اعلانونه ولوستل، خپل سپه سالار ته یې په ننګرهار کې یواځې همدومره ولیکل، چې: که چېرې انګرېزانو په زر او مال او په دوکه او فتنې سره او په فسون او چل د اسلام په امت کې نفاق نه وای اچولی ځرنګه یې کولای شول، چې د هند هېواد ونیسي او د سند له سیند څخه را خواره شي او هغه ونیسي کوم، چې د افغانستان ذاتي خاوره ده او پېښور دیره جات او سند ونیسي او بیا د افغانستان خاوره له افغانستان سره وویشي. همدا رنګه انګرېزانو د ننګرهار په پولو کې هم خلك ولمسول او د میچنې په برخه کې یې په خلکو یوه نوې ویاله وکیندله او د خلکو تر منځ یې شخړې راوپارولې. دغې فتنې اچونې هم دوام وموند. د انګرېزانو هڅې روانې وې، چې د شینوارو او اپریدو تر منځ هم نفاق واچوي او افغانان په ډلو وویشي او د دوی تر منځ د جګړې اور بل کړي.

امیر عبدالرحمن خان، چې دا پېښه ولیده، په دې توګه امیر مجبور شو، چې له پولې هاخوا تیزی کوونکو باندې د برید کولو امر وکړي انګرېزانو د پیسو په زور یو شمېر ډاړه ماران وګومارل، وسلې او ټوپك یې ورکړل او په پرله پسې توګه یې له پولې دې خوا را استول. په دې توګه یې د ولسونو تر مَنځ وینې بهولې بیا یې د له منځه تللو مالونو یو لست جوړ کړ او د یوه خیر غوښتونکي وکیل په توګه یې د افغانستان له دولت څخه د هغو غرامات غوښتل. انګرېزانو په افغانستان باندې د ډیورنډ د کرښې له منلو وروسته هم په قصدي توګه دغې کرښې پاملرنه نه کوله او له هغې څخه به را تیرېدل او ځان ته به یې لارې پرانیستې پرېښې وې او د افغانانو تر منځ یې کورنۍ شخړې پیدا کولې او ناوړه پېښې یې بیا بیا تکرارولې.

انګرېزانو په دغه ډول دسیسو سره له یو څو بې وطنه تالي څټو څخه یو څو لیکونه ترلاسه کړل او هغه یې په کابل کې ډیورنډ ته د سند او قبالې په توګه ورکړل تر څو له هغه څخه په کابل کې امیرعبدالرحمن خان ته د بونیر، سوات، باجوړ، وزیر او نورو قومونو د خانانو د اطاعت د سند په توګه وړاندې کړي. کټ مټ همدغه د اسنادو جعل، رشوت ورکول، اعلانونه او دسیسې د انګلیس د حکومت له خوا د هېواد په ختیزو او جنوبي پولو کې هم ولیدل شول، خو ولسونو په هر ځای کې د انګلیس وعدې رد کړې او د ډیورنډ له تړون څخه وروسته یې هم وښودله، چې دوی ته هېواد سره مینه او خپلواکي تر خپل ځان

څخه هم ګرانه ده.

ډیورنډ له شپږو تنو افسرانو (کلنل الیس. دکترفن، لفتننت سمت، لفتننت مکمهان مستر دانلد او مستر کلارک) سره یو ځای کابل ته راغلل، چې له دوی سره ۴۲۳ بار وړونکي څاروي ۳۲۴ تنه عمله هم وو. د خیبر له لارې افغانستان ته راننوتل، په بګرامیو کې ورته یوه کرنیل، یو سپور ټولۍ او پښځو ګاډیو مرکلي ووایه او په چهلستون په ماڼۍ کې ورته ځای ورکړل شو. د شپې له خوا ورته د شهزاده حبیب الله خان له خوا میلمستیا ورکړل شوه. یو ورځ وروسته په حشمت خان بڼ کې د امیرعبدالرحمن خان په کلیوالي کور کې د امیر حضور ته بوتلل شول. داسې ټاکل شوې وه، چې ډیورنډ به له شپږو تنو د هیئت غړو سره د امیر په دربار کې په څوکۍ باندې کېني، نور ژباړونکي او هندي غړي به پښو ولاړ وي. انګلیسي هیئت وروسته تر لنډې پېژندنې رخصت کړل شول او خبر-اترې څو راتلونکو ورځو کې پیل شوې. په کابل کې دغه هیئت له ۴۰ ورځوزیات پاتې شو، چې په دې ترڅ کې خبرې ډېرې سړې وې او په ځنډ پر مخ ولاړې، حال دا چې انګلیسي پوځ د افغانستان د پولو په خوا کې د تیارسۍ په حال کې و. د انګرېز وړاندیز دا و چې: یا به د انګلیس له لوري جوړې شوې نقشه باندې لاسلیک کېږي او لیکل شوې پرېکړه لیک به منل کېږي او یا به هم د دواړو دولتونو تر منځ اړیکې پرې او دواړو لوریو تر منځ به د جګړې لامل شي. بله دربیمه لاره نه وه، دامهال امیر عبدالرحمن خان یوې سختې آزموینې سره مخامخ شو ددې آزمېښت پای وښوده، چې نوموړی لکه هغسې چې خلکو تمه لرله، هغومره وسپنیزار سرغنډوي نه دي. امیرعبدالرحمن خان د هغو خبرو په ترڅ کې، چې له ډیورنډ سره یې وکړې. هغه په افغانستان کې خپرې نه شوې، تیروتنه وکړه او یو ځل بیا یې په تاریخ کې یو ډېر دروند مسئولیت په غاړه واخیست. هغه د تل په شان د افغانستان له خلکو یا د خلکو له استازیو څخه له پوښتنې پرته او آن دا چې پرته له دې، چې له خپلو مامورینو او دربار سره سلا وکړي. پر دغه تړون یې لاسلیک وکړ. هغه کومه ځانګړې د سلا-مشورې غونډه یا لویه جرګه جوړه نه کړه .و څکه دغه لاسلیک شوې پرېکړې د خلکو نظر نه څرګنداوه خو له لاسلیک کولو وروسته یې یوه غونډه راوبلله او د غونډې حاضرین یې له یوه واقع شوي کار څخه خبر کړل. ډیورنډ ډېره بېړه لرله، چې دغه ډول یو لوی دربار جوړ او د خپلو خبرو فیصله خپره کړي او ددغې زهرجنې او ناولې معاهدې (تړون) تصدیق کولو ته یو قانوني اړخ ور وبخښي.

په دغه دربار کې، چې انګلیسي هیئت هم ناست و، امیرعبدالرحمن خان یوه اوږده وینا وکړه، چې د هغې په ترڅ کې یې وویل:

"نورو هېوادونو خپلې ټولې چارې سمبالې کړې دي، خو افغانستان ته، څوارلس کاله کېږي، چې زه په اصلاحاتو بوخت یم، هر ملت د خپلو دښمنانو تر څنګ خپل دوستان هم لري، خو افغانستان یې نه لري نن مونږ هم په ګټه اوزیان کې ځان سره یو لایق دوست او شریک وموند (!) ما اړینه وبلله، چې د دواړو لوریو تر منځ پولې وټاکل شي او کوچنې اختلافات حل کړو، ما د انګلیس له دولت سره خبرې وکړې او ستاسې د هېواد شمالي پوله مې د هغو په واسطه د روس له دولت سره وټاکله، همدا رنګه ستاسې د

هېواد لویدیزه کرښه مې له ایران سره وټاکله، هغه ډېره لږه برخه ګډه پوله. چې د ختای (چین) له هېواد سره لرو، هغه مو د لیك او پیغام په واسطه وټاکله. د پخوانیو پاچاهانو په دوره کې یا د افغانستان د مشرانو د ناوړتیا له لامله یا هم د انګلیسانو د تیروتنې له لامله، یو شمېر جګړې، پېښې شوې وې. خو وروسته تر دې به پخوانۍ کینه او دوښمني پرېږدو، یو بل سره دوستان شولو نو پرته د نورو له لاس ځخه مو په خپله په خپل کور کې په دوستانه توګه خپلې پولې وټاکلې. ډیورنډ ژمنه کړې وه، چې د هېواد په شمال کې له جیحون ځخه پورې غاړه زمونږ له خوا نیول شوې سیمې د روسانو له خوا د جیحون ځخه دا غاړه نیول شویو سیمو سره تبادله شوي او حق حقدار ته رسېدلی دی، همدا رنګه د چنګ له ځخه را دې خوا ته چې کافرستان هم پکې راځي، تر اسمار پورې او تر هغې سیمې پورې، چې د سیمې کونړ د سیند سرچینه ده او تر هغه غره پورې، چې شرتن او د مومندو تر سیمې پورې تللی دی او همدا رنګه تر سیستان پورې، چې د ملك سیاره د غره په نوم یادېږي. ټوله سیمه مو په نقشه باندې وټاکله او ماته یې وسپارله(!) اما د وزیرو له قوم ځخه، چې زما خبره یې نه اورېدله لاس واخیست(!؟) او پر ملیان یې، چې افغانستان ته ور پرېښودل، چې څو پېرېو راهیسې باج لرونکي لري. په دې توګه تر سیستان پورې ویش وشو، پولې لاسلیك شوې او وروسته تر دې به د دواړو لوریو کمیسونونه دنده ولري، چې ګډې پولې او اړونده رعیت (ولسونه) یو بل ځخه جلا او په کرښه باندې به ځلي جوړ کړي. ډیورنډ په دې هکله یو ژمنلیك لاسلیك کړ او ماته یې راکړ، چې انګلیس دولت به هېڅکله د پولې له کرښې ځخه دې خوا ته نه را اوړي، ما هم ورته یوه وثیقه ورکړه، چې د افغانستان د خپلواك دولت له لوري به کوم تیری نه وربانديې کېږي...

د امیر د وینا په پای کې یو فرمایشي ځوابیه لیك، چې مخکې له مخکې جوړ شوی و، د دربار د ګډونکوونکو په نوم د امیر په لاس ورکړل شو، چې په خپله امیر ولوست. په دغه ځوابیه لیك کې لومړی یوه دیني سریزه راغلې وه، چې په هغې کې د امیر د امر، د اطاعت د واجبوالي په هکله خبرې شوې وې او د هغې په ځلورمه فقره کې راغلي وو، چې:

اعلیحضرت د ملت او دولتونو په ګټه دوستي د دوو لویو دولتونو تر منځ چې د دین او قانون له مخې زمونږ د هېواد په ښې او کیڼ لوري کې ځای نیولی غوره کړه، د حال تو له حالاتو له غوښتنې سره سم یې یووالی او د عدالت رشته داسې وتړله، چې هېڅکله به د دوی له لوري ځخه زمونږ هېواد او ملت ته کوم تکلیف پېښ نه شي او ددغو پولو له ویش او ټاکلو ځخه پرته، چې په ټوله نړۍ کې دود ده، د هغو ناځرګند پرېښودل د شخړو لامل ګرځي خو اوس مونږ دغه پولې په ډېر ښه ډول وټاکلې او په ژمنو کې مو ولیکل، چې هېڅکله به زمونږ او د انګلیسانو تر منځ غم شریکي په شخړه بدله نه شي...

ددغه لیك په پای کې د افغانستان د خلکو په نوم هم وینا راغلې وه:

خلك به بیا هم د خپل پاچا امیر عبدالرحمن خان مطیع او د امر منونکي وي او د کارونو د سمون لپاره، چې هغه له هر بهرني هېواد سره هر تړون کوي بې له ځنډ ځخه به یې سم له اورېدو سره مني...

ډیورند هم پاځېد او ویې ویل: امیرصاحب وفرمایل، چې مونږ او تاسې په ګټه او زیان کې یو بل سره

شریك یاستو، دا بېخي سمه خبره ده، چې په ګټه او زیان کې سره شریك یاستو. اوس چې د پولو خبرې هواره شوه، هیله لرم چې ورځ په ورځ به یو بل سره اړیکې نږدې شي. وایسرا د تیلګراف په ترځ کې له دغې فیصلې څخه خوښي څرګنده کړې ده او ویلي یې دي، چې نن د افغانستان او انګلیس ترمنځ دوستي کلکه، او راتلونکي کې به نوره هم پخه او کلکه شي. همدا رنګه د انګلیس پارلمان د افغان انګلیس د دغې دوستۍ له کلکوالي څخه خوښي ښودلې ده.(۱)

ډیورند په یوه وخت کې په امیر عبدالرحمن خان باندې دوه تړونونه په لاندې توګه لاسلیك کړل:

## لومړی تړون

د افغانستان د امیر جي. سي. اس. اې جناب امیر عبدالرحمن خان او د هغه د سیمې د حدودو او د کې سي. اې. اي. سي. اې - فارن سکرتري سرهنري مارتیمر ډیورنډ د هند د عالیه دولت او د مقابل لوري د دولت له خوا نایب وکیل ترمنځ تړون.

له دې لامله، چې د افغانستان د پولو په هکله یو شمېر ستونزې د هندوستان مخې ته راغلې او لګه هغسې، چې هم جناب امیرصاحب او هم د هند عالیه دولت، چې دغه ستونزې د دوستانه اتفاق له لارې هوارې شي او امیر د خپل واك د دایرې د پولو د ټاکلو هیله لري تر څو په راتلونکي کې په دې برخه کې د دواړو دولتونو تر منځ د نظر کوم اختلاف پېښ نه شي، نو ځکه د دغه لیك په واسطه تړون په لاندې توګه ترسره شو:

۱- د جناب امیرصاحب د هېواد د ختیزې او جنوبي پولې له واخان څخه د ایران تر پولو پورې د هغې کرښې په اوږدو کې، چې په نقشه کې ښودل شوې دي او نوموړې نقشه له تړون سره مل ده، سمه پر مخ تللې ده.

۲- د هند دولت به په هغو سیمو باندې، چې د کرښې دې خوا ته د افغانستان لوري ته دي هېڅکله لاسوهنه نه کوي او جناب امیرصاحب به هم په هغو سیمو کې هېڅکله لاسوهنه او مداخله نه کوي، چې له دغې کرښې څخه هاخوا د هندوستان لوري ته دي.

۳- په دې توګه د بریتانیا دولت ژمنه کوي، چې جناب امیرصاحب اسمار او له هغه څخه پواته ناوه ترچنګ پورې په خپل واك کې ولري او له بل اړخه جناب امیرصاحب ژمنه کوي، چې هېڅکله به په سوات، باجوړ او چترال او له هغو سره د ارنوي په ناوه کې لاسوهنه نه کوي او د بریتانیا دولت هم ژمنه کوي، چې برمل سیمه به د هغې نقشې سره سم، چې په تفصیلي توګه مخکې تر مخکې امیرصاحب ته ورکړل شوې ده، امیرصاحب ته وسپارل شي او جناب امیرصاحب به د وزیر په پاتې سیمې باندې له دعوا څخه تیرېږي او په دارو او چاکي سیمه باندې به هم دعوا نه کوي.

۴- د پولو دغه ټاکل به په تفصیل سره دوام وموومي او په هر ځای کې، چې اړتیا وي ننبې به ولګول شي او افغاني او بریتانیایي کمشنران به وټاکل شي، چې موخه یې دا ده تر څو یو بل سره په ګډه په یوه پوله

۱- سراج، دریم توك له ۹۴۲ مخ څخه تر ۹۵۰ مخ پورې.

Scanned by CamScanner

باندې توافق ته ورسېږي او دغه پوله به تر ممکن حد پورې کټ مټ له هغه څه سره مطابق وي کوم، چې په هغې نقشه کې ښودل شوي دي. چې له دغه تړون سره ښلول شوې ده. لیکن د موجوده کلیو د حقوقو محلیه به په پام کې ونیول شي، چې پولو ته نږدې پراته دي.

۵- د چمن د سیمې د ستونزې په اړه به جناب امیرصاحب د انګرېزانو د نوې چونۍ په وړاندې له خپل غرض څخه تیر شي او خپل حقوق به د سرکی تلري د اوبو په ترلاسه کولو د بریتانیا دولت ته تسلیم کړي. په دغه برخه کې به د پولې د کرښې تاکل په لاندې توګه ترسره شي: د پولې کرښه به د انګرېزانو د ملک خوا ته نږدې پشاکوتل سره د خواجه عمران د غره له سره داسې تېره شي د اوبې او چشمه شیر، چمن او دغه سیمې به افغانستان پرېږدي د او بې او چشمه شیر کرښه به د نوي چمن کلا او هلته د ډنډ د لښکر د افغاني تانې له سم نیمایي څخه تېرېږي، وروسته به همدغه کرښه او بیا به د غونډۍ او د ریلوي ستیشن له سم نیمایي تیره او مخ په جنوب به ځي او د خواجه عمران غره پورې به رسېږي د انګرېزانو په ملک کې به د ګواشه له تانې څخه به وروسته هغه لاره، چې د ګواشې له جنوب او لویدیځ لورې څخه د شواروك خوا ته ځي د افغانستان په واك کې ورکړي، د بریتانیا دولت به د دغې لارې تر نیمایي پورې هېڅ ډول لاسوهنه نه کوي.

۶- د دغه تړون دغه ویل شوي شرایط جناب امیرصاحب او د هند عالیه دولت داسې ګڼي، چې هغه د ټولو اختلاف وړ ټکیو حل او د پولې په سر باندې د دوی تر منځ یوه بشپړه د خوښې وړ فیصله ده. هم د هند عالیه دولت او هم جناب امیرصاحب د فقراتو کوم جزیې او کوچني ټکي کې اختلاف له منځه وړلو کې به ژمنه کوي کوم هغه اختلاف، چې د هغې له لامله به په راتلونکي کې ټاکل شوي افسران د کرښې د په نښه کولو لپاره غوره کوي او د دغه نښې ایښودل به په دوستانه طریقه وي تر څو د راتلونکي په ترځ کې د امکان تر حده ټول د شك وړ ټکي او د دواړو تر منځ د غلط فهمۍ او اشتباه پارونکي وسایل ټول له منځه یوړل شي.

۷- له دې لامله، چې د هند عالیه دولت د بریتانیا د دولت په وړاندې د جناب امیرصاحب د نیك نیت له لامله په بشپړ ډول ډاډه دي، نو هیله لري، چې افغانستان په خپلواك او ځواکمن ډول ووینې، نو په خپل هېواد کې به داسې یو اسباب او لامل رامنځته نه کړي، چې د هغه له لامله امیرصاحب اعتراض وکړي او یا هم جنګ پېښ شي او یا هم دغه دولت د جګړې لامل وګرځي. له دې پرته د هغو دوستانه لارو چارو په اړه هغه څرګندونه او اعتراف، چې خپله امیرصاحب کړی، د هند عالیه دولت ژمنه کوي، چې په هغو دولس لکه روپیو باندې په کال کې شپږ لکه روپۍ نورې هم ورزیاتې شي کومې، چې همدا اوس یې امیرصاحب ترلاسه کوي. المرقوم ۱۸۹۳، د نوامبر ۱۲مه د ۱۳۱۱ق د جمادی الاول دوهمه.

Scanned by CamScanner

## دوهمه معاهده

د افغانستان د امیر جي، سي، اس، ای جناب امیر عبدالرحمن خان او د هغه د متعلقه حدودو او کې.سي.آی. ای، سي.ای سرهنري مارتیر ډیورنډ د هند د عالیه دولت د فارن سکرتري او د عالیه دولت د وکیل تر منځ تړون.

له دې لامله، چې له دې لوري د بریتانیا دولت جناب امیرصاحب ته ویلي وو، چې د روس دولت د انګلند او د روس تر منځ د ۱۸۷۳ کال د تړون پر ځای کولو باندې ډېر زور اچوي او د هغه له مخې د اکسوس یعنې د آمو له سیند څخه نیولې تر دویکتوریا جهیل (سرکول) تر ختیځ پورې او د کوکچې د سیند او د آمو یو ځای کېدو تر برید پورې ټول باید د افغانستان شمالي سرحدات وپېژندل شي او لکه څرنګه، چې د بریتانیا دولت فکر کوي، نو دوی ته په کار ده، چې ددغه تړون سره سم عمل وکړي. که څېرې د روس دولت هم د پورتني تړون له شرایطو سره عمل وکړي، نو د افغانستان امیر جناب جي،سي.اس.ای عبدالرحمن خان او د هغه متعلقه حدود به بریتانیا سره د دوستۍ د ښودلو په خاطر به له بهرنیو هېوادونو سره د اړیکو په ساتلو کې ددغه لیك سره سم د بریتانیا د دولت رضایت په پام کې نیسي او ممدوح پاچا به ټولې همدغه سیمې، چې د اکسوس د سیند شمال لوري ته دي او په خپل واك کې یې لري، هغه به پرېږدي او په دې پوهېدل په کار دي، چې دا د اکسوس د سیند ټولې جنوب لور ته پرتې سیمې دي او اوس نو دا سیمې د جناب ممدوح په واك کې نه دي او جناب محتشم الیه ته په عوض کې ورکړل شوې او د هند د عالیه دولت فارن سکرتري کې.سي.ایی.ای.سي.ای سرهنري مارتیمر دیورند د بریتانیا د دولت له لوري ددغه لیك په واسطه اقرار او اعتراف کوي، چې د اکسوس د سیند د جنوب د سیمو د پورته ذکر شویو علاقه جاتو سپارل او تسلیم کول جناب امیرصاحب ته په دغه معامله کې یو اصلي او واجب شرط دی او ژمنه کېږي، چې د آمو یعنې د اکسوس د سیند د شمالي او جنوبي سیمو د تسلیم او تحویل کولو په خاطر د روس له دولت سره بندوبست به کېږي.

فقط.المرقوم د ۱۸۹۳کال د نوامبر ۱۲مه مطابق د ۱۳۱۱هجري کال د جمادی الاول دوهمې سره په دې توګه امیرعبدالرحمن خان له خپل ټول هغه ځواك او هوښیارۍ سره، چې لرله یې د ډیورنډ تړون لاسلیك کړ. هغه د دولتونو د معاهداتو په ترڅ کې یو تړون، چې سرخط (ملا نصرالدین تړون) ویل کېدای شي؛ دا ځکه چې انګلیسي دولت په څرګنده توګه د افغانستان دننه سیمې په ښکاره او عملي توګه د افغانستان ملکیت ګڼلې، حال دا چې امیر د افغانستان هغه سیمې چې لاتر اوسه د انګلیس تر واك لاندې نه وې راغلې، د هغو له درې میلیونه وګړو سره یو ځای د دښمن مال او ملك وګرځولې. امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۸۰ کې یواځې او یواځې د خپل شخصي تاج او تخت د ټینګښت په خاطر د انګرېز په وړاندې له خپلواکۍ او د افغانستان له خاورې څخه تېر شو او په ۱۸۹۳ کال کې یې یو ځل بیا د تاج او تخت د ساتلو په خاطر پخوانی عمل یو وار بیا تکرار کړ. داځکه چې امیر په دې باندې وېره لرله، چې که د ډیورنډ وړاندیز ته غاړه نه ږدي، او د افغانستان او انګرېزانو تر منځ دریم جنګ شروع شي، نو ټول هغه خلك چې دده د ځوارلس کلن واك په ترڅ کې له ده څخه مرور شوي د هېواد دننه به دده

Scanned by CamScanner

په ضد راپاڅېږي او دا به دده په شخصي زیان پای ته ورسېږي. حال دا، چې د انګرېز دولت نه غوښتل، چې بې ځل بیا په افغانستان باندې په تیري کولو سره د بریتانیا د امپراتورۍ پاتې پرتم او شرف باندې بوارګري وکړي، هغوی پوهېدل، چې ټول ولس به له خپل پخواني دښمن سره جګړې ته پاڅېږي او سرحد درې میلیونه وګړي به ۲۵۰ زره تنه وسله وال جنګیالي د انګرېزانو مخې ته جګړې ته واستوي او د افغانستان اردو به هم له دوه دومره شمېر سره د انګرېز په وړاندې جګړه وکړي. خو انګرېزان په دې هم پوهېدل، چې امیر له خپلو خلکو څخه په ویره کې دی او له دښمن سره جګړې ته زړه نه ښه کوي. نو ځکه بې د هغه په وړاندې د تهدید او د ویرولو سیاست غوره کړ او بری یې ترلاسه کړ، په دې توګه یې په هغه باندې یو داسې تړون لاسلیک کړ، چې پخوا یې تیار په انګلستان کې لیکلی او جوړه کړې او هندوستاني ګومارل شویو ژباړونکو هغه ټکی په ټکي په پارسي وژباړله. همدا رنګه هغه نقشه چې انګرېزي ارکان حرب په خپل دفتر کې کښلې وه په امیر یې ومنله. امیر پرته له دې څخه، چې آن یو ټکی ورباندې زیات کړي او یا پرته له دې، چې د انګرېزانو په لاس جوړه شوې نقشه په کره توګه وګوري، فقط د انګرېزانو د تهدید او دوکې تر سیوري لاندې یې په پټو سترګو لاسلیک کړه او یو ستر تاریخي مسئولیت یې د تل لپاره په غاړه واخیست، خو د افغانستان خلکو ددغه تړون په لاسلیک کولو سره ګرکه څرګنده کړه، د آزاد سرحد خلکو له هند څخه د انګرېزانو تر وتلو پورې خپلو مبارزو ته دوام ورکړ او په قطعي توګه تسلیم نه شول. د وزیرستان خلك یعنې هغه خلك، چې د افغانستان او انګرېزانو په دریم جنګ کې یې د دښمن ملا ورماته کړه، کله چې د ډیورنډ د تړون لاسلیك کولو څخه خبر شول، نو پکتیا ته یې د امیر په نوم په یوه لیك کې ولیکل او دغه لیك یې د خپل استازي کشتوري خان په لاس وازه خوا ته واستاوه، په هغه کې داسې راغلي وو: "د انګرېزانو یو شمېر پلویان وایي، چې حضرت والا (امیر) د ډیورنډ په غوښتنه، چې کابل ته درغلی دی، د وانه سیمه انګرېزانو ته ورکړې ده. که دا خبره رښتیا وي، نو د وزیرو خلك دغه دولت ته اطاعت نه کوي او له سردار څخه هیله کوي، چې ددغې خبرې له رښتیا والي او دروغ والي څخه دوی ته خبر ورکړي، تر څو دوی ځانته یوه چاره وسنجوي او هغه لاره غوره کړي، چې دوی ته سمه برېښي."

د هغه ځای سردار د دوی په ځواب کې ورته ولیکل: "تر اوسه پورې والا حضرت د پولو او د کرښې د ټاکلو او ویش په هکله کومه خبرتیا نه ده ښودلې او که چېرې د دواړو دولتونو تر منځ د پولو ویش وشو، نو د انګرېزانو مامورین به د حضرت والا په لاسلیك او پرتمین مهر باندې یوه فیصله ترلاسه کړي او سند به ولري، که نه پرته له هغه دهغوی خبرې د منلو وړ نه دي او سمې یې مه بولئ."

کله چې امیر له دغو لیکنو څخه خبر شو، نو سردار ګل محمد خان او واقعه نګار خلیفه نور ته یې ولیکل: "د وزیرو خلکو ته ووایاست، چې پرته له برمل او مرغه سیمو څخه د وزیرو او مسعودو نورې ټولې سیمې (یعنې ټول وزیرستان) د انګلیس په دولت پورې اړه لري. دا ځکه چې دغو خلکو له ۱۴ کلونو راهیسې حضرت والا خپه کړی دی(!) سره له دې، چې دوی سره مو ښېګڼه او د دین یووالی کړی خو د امیر وینا ته یې غوږ نه دی نیولی. څومره نصیحت، چې ورته وشو غوږ یې ونه نیو، نو د ناچارۍ

Scanned by CamScanner

ورځې له لاملہ مې د دوی سیمه انګرېزانو ته ورکړه(۱) او حضرت والا پرته د برمل او مرغه له سیمې څخه چې د کرښې دې خوا ته دي نورې ټولې سیمې چې له کرښې هاخوا دي په هغو واك نه لري او مداخله نه کوي.»(۱)

انګرېزانو، چې ددغه تړون په وړاندې د خلکو مقاومت ته کتل، کابل کې يې امير ته يو هيئت واستاوه او ورڅخه هيله يې وکړه، چې د خلکو د غلي کولو په خاطر دې د دوی تړون او د پولو د ټاکنې نقشه او د دغې شرحه چاپ او د هېواد ټولو پولو ته دې وويلی شي تر څو ټول په دې وپوهېږي او له ځايه ونه خوځېږي امير ومنله او همداسې يې وکړل(۲) او په ټول هېواد کې يې دا ډول اعلانونه خپاره کړل:

"کله، چې د انګليس د دولت کمیسون کابل ته راغی او مشر يې فارن سکرتر ډيورنډ او د هيئت غړي (د هغوی د نومونو لست) ورسره وو، داسې ومنل شوه، چې له شغنان او درواز څخه بيلودونکې کرښه د ۱۸۹۲ کال د نقشې سره سم له واخان څخه تيرېږي او بيا تر کافرستان او چترال پورې ځي او صندك ته رسېږي او له هغه ځايه د کونړ د غرونو يعنې د کونړ او باجوړ تر منځ او بيا د مومندو او باجوړو تر منځ تيرېږي او تر لواړګي پورې رسېږي او تر شکاغلي پورې ځي بيا دغه کرښه د سپين غره له څوکو تيرېږي، اپريدي له شينوارو څخه جلا کوي او د سپين غره په لوړه څوکه نښه لګول کېږي او بيا دغه کرښه تر ځاځيو، توريو، څمکنيو او خوست پورې ځي او له هغه ځايه د برمل، وزيرو او نورو سيمو تر منځ تيرېږي، چې برمل افغانستان ته را جلا کوي او نور وزيريان بلې خوا ته او له هغه ځايه تر کاکړو او ترو پورې ځي او هغه غره باندې تيرېږي، چې د سليمانخېلو، کاکړو او وزيرو تر منځ ده او بيا هغو سيمو څخه تيرېږي، چې هلته تره کي، اندړ او توخي پراته دي او د هغه ځای غرونه ددغو دريو قومونو او کاکړو تر منځ ويشي او هلته د نوي چمن له بريد څخه اوړي او تر توشکي پورې ځي او له هغه ځايه تر چاګي او (ملك سياه) غره پورې ځکه معطل ده، چې ګرمي راغله او بل ژمي کې به هغې سيمه کې کرښه وټاکل شي، دا ځکه د انګرېزانو مامورين وايي، چې واخان او چترال، کافرستان، کونړ، باجوړ او مومند بايد يو بل څخه جلا شي، نو بايد د افغانستان ټول اوسېدونکي، قومونه او طوايف بايد پوه شي، چې په دې کې کوم د زياتوالي او کموالي ځای نه دی پاتې. خو هغه قومونه چې ددغې کرښې دواړو غاړو ته پراته دي دومره حق لري، چې د ميراثي ځمکو، د ځنګل لرونکو غرونو او د خپلو څارويو څرځايونو په هکله خبرې-اترې وکړي او ددغه دولت مامورين به هغه فيصله کړي، خو د يو شمېر نورو مهمو او لويو پېښو په هکله زه خپله د بريتانيا له دولت سره خبرې-اترې کوم، چې د شخړې له هوارولو وروسته او د قومونو له قانع کولو وروسته به سرحدي نښې ولګول شي. دا و د دولتونو تر منځ د پولو د ټاکلو او د ويش د کار د ابتداء حقيقت، چې تاسې ته مو خبر درکړ، په دې هکله چې نور هر څه ليکل يا اورېدل شوي ناسم دي او په دې کې کوم بدلون نشي راتلای. فقط.(۳)

---

۱- سراج، دريم ټوك، ۹۵۵ مخ.
۲- سراج، دريم ټوك ۹۲۲ مخ.
۳- سراج، دريم ټوك ۹۷۱ مخ.

Scanned by CamScanner

د ډیورنډ د تړون له مخې د پولو ویش د افغانستان په ختیځ او جنوب کې دوه کاله وخت ونیو تر څو چې بشپړ شو او نقشې یې لاسلیک شوې. البته په دې ترڅ کې یو څه مشاجره وشوه، د بېلګې په توګه د افغاني نماینده ګانو د ننګرهار والي او نظامي قوماندان سپه سالار غلام حیدرخان څرخي، د پکتیا د ولایت د والي سردار شریندل خان، د ارګون حاکم سردار ګل محمد خان او محمدعمر نورزايي فراهي او د انګرېزي نماینده ګانو مستر اوني کمشنر، مستر دانلد او مستر مګان تر منځ د پولو په ټاکلو کې خبرې لاندې باندې شوې، په دې لړ کې په پکتیا کې انګرېزانو سرحدي کرښه د نقشې برخلاف د افغانستان لورې ته راکږه کړه، خو افغانستان نه منله او په هندوستان یې اعتراض وکړ، همدارنګه د مومندو په برخه کې یې سرحدي پولې ته بدلون ورکړ تر څو وکولای شي، خپل سړک تر باجوړ پورې ورسوي، خو څرخي سپه سالار د بر کلك دريځ ورسره غوره کړ او ملا نجم الدين خلك پوه کړل.

امیرعبدالرحمن خان وکولای شول، چې د ډیورنډ له تړون څخه وروسته د افغانستان دننه خلك په خپل ځای غلي کښېنوي، خو په سرحداتو کې دده اعلانونو کومه ګټه ونه کړه، بلکې ولسي مبارزو دوام وموند. د بېلګې په توګه په بل کال د مسعودو خلکو په وانه کې په انګرېزانو برید وکړ، د انګرېز یو ټولی سرتیري یې ووژل او یو شمېر سرتیري او افسران یې ټپیان کړل او د دښمن د بوسو یوه بوساړه (ډیری) وسوځوله او ۱۵۰ ټوپکونه یې هم له دښمن څخه ترلاسه کړل. په دې سره انګرېزان دومره ویریدلي وو، چې څلور نوي غونډونه یې او یو قوي توپچي ځواك یې له اټك څخه میدان او تنګي سیمو ته راوستل تر څو د ځان ساتنه وربانديې وکړي، خو د مسعودو خلکو د ملا پیونده په لارښوونه پاڅون وکړ او په انګرېزانو باندې یې کلك ګوزارونه وکړل، انګرېزان په شاه ولاړل. دا وخت د هند وایسرا په خپله له کلکتې څخه پېښور ته راغی او د لنډي کوتل سرحدي کرښه یې په خپله وکتله او په مومندو کې یې اعلانونه وکړل او د پیسو په بدل کې یې د خلکو د اطاعت غوښتنه وکړه، خو خلکو د ملا خېل د زوی ملا محمدقدیم په لارښوونه د انګرېزانو غوښتنه رد کړه او د انګرېزانو پلوه خانانو کورونه یې په سپیدتنګي کې هم د موسی خېلو، کداخېلو او هم د عیسی خېلو وسوځول. همدا رنګه د ما مندوقوم د پولو د ټاکنو پر مهال د انګرېزانو پر لښکرکوټ باندې بریدونه وکړل او د پولو په ټولو اوږدو کې پاڅون دوام وموند. انګرېزانو د ترنګزیو، عیسی خېلو، حلیم زیو، پندعلي او برهان خېلو خلکو ته لیکونه واستول او ورته یې ولیکل، چې د مومندو غرنۍ سیمې په انګرېزانو پورې وتړل شوې او خلك باید نور له افغانستان سره اړیکې ونه لري. حلیم زیو ملا نجم الدين ته مخ واړاوه هغه د سعید محمدخان- د ملاخېل د زوی او سلطان محمد خان په لاسونو د انګرېزانو په وړاندې غونډونه جوړ او د انګرېزانو په ضد تبلیغات پیل او دده پیروانو وعظونه شروع کړل په دې توګه خپلواکي غوښتونکو ملایانو او قومي مشرانو له خلکو سره لاس یو کړ او د انګرېزانو په ضد یې جګړې پیل کړې. ملا نجم الدین، چې د آزاد سرحد په مومندو کې ځای پر ځای شوی و، د افغانستان په ټولو پولو کې یې د انګرېزانو په وړاندې جهاد پیل کړ. په پېښور، دیره جاتو او نورو سیمو کې د انګرېز په وړاندې د جهاد ډلې جوړې شوې او په انګرېزانو یې بریدونه پیل کړل، آن دا چې انګرېزان اړ شول، چې د پېښوریانو په واسطه له

ملا نجم الدین سره اړیکې ونیسي او وړاندیز یې وکړ، چې که چېرې ملا نجم الدین د انګرېزانو په ضد د افغاني ډلو له بریدونو څخه مخنیوی وکړي او مومند د انګرېزانو تابعداري ته وهڅوي، د مومندو د علاقې ټول مالیات به ده ته ورکړل شي، ملا نجم الدین د دښمن دغه وړاندیز رد کړ. لا یې هم نور افغانان له یوسفزیو څخه تر سوات او کاکړستان پورې د انګرېزانو په وړاندې وهڅول. همدا رنګه سپه سالار څرخي له ننګرهار څخه امر وکړ، چې که بیا د انګرېز له خوا کوم استازی د ملا صاحب کتو ته راځي ودې نیول شي.

امیرعبدالرحمن خان، چې د ډیورنډ د تړون له لاسلیک کولو څخه وروسته د هېواد او خلکو وضعیت ته کتل، بیا یې یو شمېر فعالیتونه پیل کړل. هغه د پیسو، وسلې او تبلیغ په واسطه خپل استازي سرحداتو ته واستول، مجاهدینو سره یې مرستې وکړې او د انګرېز په وړاندې یې مقاومت پیاوړی کړ. له بلې خوا هغه د جهاد د تبلیغي رسالو په خپرولو هم لاس پورې کړ او هم یې د پولو ټاکونکیو مامورینو ته یو دستورالعمل (کړنلاره) واستوله او مهمې سیمې یې په ډېر غوره سره په نښه کړې او نومونه یې ورباندې کېښودل او په دې باندې یې زور واچاوه، چې انګرېزان باید له دغو نښو نور اضافه وړاندې رانشي.

د خیبر لویدیځ ته د پولې په نښه کول، چې د ډیورنډ له تړون سره سم و، تر شک لاندې راوست او د سپه سالار څرخي وړاندیز یې چې په ختیځ کې د انګرېزانو د دسیسو په وړاندې کلک ولاړ و، ومنل او د نورستان سمبالولو ته یې هم لا زیاته پاملرنه وکړه. د امیر کارونو د سرحد خلک یو ځل بیا امیر ته هیله من کړل او یو ځل بیا یې د سرحد له بېلا بېلو سیمو څخه د هغه دا طاعت کولو په موخه او د انګرېز په وړاندې د مقاومت په هکله بېلا بېل لیکونه ورته راولېږل او وروسته بیا د جهاد ستر مشر د هډې ملا نجم الدین صاحب او ملا پیونده وزیري او نور بېلا بېلو بڼو کابل ته راغلل، چې زیاترو ته یې هدایتونه او مرستې هم ورکړل شوې او په کلونو کلونو یې هلته د جهاد جنډې رپانده وساتله. له بلې خوا امیر دوسلې په زیرمه کولو پیل وکړ او آن دا، چې د جګړې د مهماتو په ټولولو بوخت شو او آن د آس نالونه یې زیرمه کړل. انګرېزان هم وزګار نه کښېناستل، چېرې یې چې وس و او لاس یې ورسېد وړاندې تلل. د بېلګې په توګه دوی په چترال کې، چې پخوا یې هلته سیاسي فعالیتونه او د کورنیو شخړو او بې اتفاقۍ په واسطه یو شمېر چترالیان له مبارزې غورځولي وو، د اماني الملک زوی امیرالملک یې مسموم، د عمراخان خور یې او نظام الملک چې د چترال مهتر و. امیرالملک له عمراخان څخه چترال ته ولاړ او په ښکارځای کې یې نظام الملک وواژه او د چترال مهتري یې په خپل لاس کې واخیسته.

د مهتر ورور غلام دستګیر خپل تره، کوکان بیګ ته ور وتښتید، د ډیورنډ له تړو څخه وروسته غلام دستګیر اسمار ته راغی، خو مستر اوني چې له سپه سالار څرخي سره د پولو په ټاکلو بوخت و، هغه سره د چترال د مهتري د سپارلو ژمنه وکړه. د نظام الملک مور د مرستې د ترلاسه کولو لپاره عمراخان باجوړي ته ورغله، حال دا چې عمراخان ته لا پخوا د انګرېزانو له خوا د چترال د مهتري د ورکولو وعده ورکړل شوې وه، نو ځکه یې په چترال برید وکړ، خو ناکام شو.

شیرافضل خان چترالي، چې لا مخکې له خپلو ۱۸۵ تنو خپلوانو سره د بدخشان په لاره باندې کابل ته

Scanned by CamScanner

راغلی و، د کابل په هدایت عمران خان ته ورغی او په داسې حالت کې، چې عمراخان د چترال د مهتر امیرالملك په ضد لښکر ایستلی و. کله چې شیرافضل ورغی. د امیرالملك عسکر ورسره یوځای شول او د انګرېزانو لاسپوڅی امیرالملك د خپلو انګرېزي پلویانو سره یو ځای د چترال په کلا کې کلابند شو. شیرافضل هغوی کلابند کړل او د سر زیانونه یې ور واړول. خلکو امیرالملك بندي کړ او د هغه ورور یې د چترال مهتر وګوماره انګرېزانو شیرافضل ته بلنه ورکړه، چې د نوي مهتر اطاعت ومني، شیرافضل ونه مانه، نو ځکه یې له عمراخان څخه مرسته وغوښته. عمراخان، چې د انګرېزانو د دوستی په لومه کې نښتی و، د مرستې ورکول ونه منل، شیرافضل خان، چې د کابل استازی و په چترال او مستوج کې د انګرېزانو عسکري کنډکونه په کلابندۍ کې وساتل. انګرېز دغه ګوري ته دوه پوځونه او ځواکونه راولېږل، شیرافضل په جلا توګه او عمران خان په جلا توګه له انګرېزانو سره خپل مخالفتونو ته دوام ورکړ. مجاهدینو انګرېزانو ته په کوټګي کې ماتې ورکړه. انګرېزانو عمراخان سره ژمنه وکړه، چې په باجوړ کې به ورته تیلګراف او سړکونه جوړ کړي او د باجوړ له لارې څخه یې مخ په چترال باندې د لارې غوښتنه ورڅخه وکړه. عمراخان د هډې ملا نجم الدین صاحب سره سلا وکړه. د سوات خلك جهاد ته چمتو شول. د عمراخان ځواکونو د دیرې محمدشریف برید له ماتې سره مخامخ کړ، نو دا ځل انګرېزانو په خپله باجوړ ته پوځ واستاوه، چې وروسته تر څو ځله جګړو څخه یې جندول ونیو. دا مهال عمراخان د افغانستان دولت سره پناه واخیسته او ځان یې اسمار ته راورساوه. انګرېزانو له خاین محمدشریف سره لاس یو کړ او پر شیرافضل یې برید وکړ. هغه یې ایسار کړ، ماتې یې ورکړه او بندي یې کړ هند ته یې واستاو، په دې توګه باجوړ او چترال دواړه د انګرېزانو لاس ته ورغلل.

کله، چې انګرېزان د ډیورنډ له تړون څخه وروسته د سرحداتو د ښځي نیولو په برخه کې ستونزو سره مخامخ شول او د امیر د نظر په هکله هم شکمن شول، نو د پخلاینې لاره یې غوره کړه او د ډیورنډ له تړون څخه یو کال وروسته یې یو نامتو سیاستپوه لارډ کرزن د انګلیس د پارلمان د وکیل په توګه غوره کړ او له امیر څخه افغانستان ته د ننوتلو اجازه له امیر سره د کتنې په موخه ترلاسه کړه او د ۱۸۹۴ کال د نوامبر په څلورمه نېټه کابل ته راغی. هغه په دې ترڅ کې ډېرې هڅې وکړې، چې د افغانستان دننه تر ډکې پورې او په کندهار کې دننه د وسپنې د پټلۍ د غځولو او تر کابل پورې د تیلګراف د غځولو اجازه له امیر څخه ترلاسه کړي، خو په دې کې هم انګرېزانو دا ویره لرله، چې که د افغانستان دننه د وسپنې پټلۍ ورسول شي، نو د روسانو د وسپنې پټلۍ به له هند سره ونښلي. کرزن یو هغه څوك و، چې همداویره یې لرله. دوی په افغانستان کې دا نظریه رامنځته کړه، چې د وسپنې پټلۍ د یو هېواد د خپلواکۍ لوی دښمن دی، نو ځکه یې افغانستان تر شلمې پېړۍ پورې په وروسته پاتیوالي کې وساته، خو د افغانستان پولو پورې د انګرېزانو د وسپنې د پټلۍ راغځول په خپله د انګرېزانو په ګټه وو، دا ځکه وروسته تر هغه چې انګرېزانو ولیدل، چې مرو د روسانو لاس ته ورغله او د دوی د خزر د سیند له خوا راغلې پټلۍ د هندوستان خوا ته رانږدې کېده، دوی یې په ویره کې واچول، نو ځکه د افغانستان د پولو د وسپنې د پټلۍ د جوړولو او د کوټې او سیستان د لارو د جوړولو په فکر کې شول.

Scanned by CamScanner

امیرعبدالرحمن خان د کرزن غوښتنې ونه منلې او ویې ویل، چې افغانستان له روسانو سره په جګړه کې د انګریز پوځ ته اړتیا نه لري، خو د پیسو او وسلې مرسته به ومني. کرزن وروسته تر لسو ورځو پورې پاتې کېدو څخه د کندهار په لاره باندې بېرته ستون شو. په بل کال (۱۸۹۵) باندې د انګلیس دولت امیرعبدالرحمن خان شخصاً لندن ته ور وباله تر څو هغه ته د انګرېزانو تکتیکي او نظامي پرتم ور وښیي او په یو ډول سره له ځان خوښ هم کړي، خو امیرعبدالرحمن خان دغه بلنه ونه منله، هغه خپل زوی سردار نصرالله خان لندن ته واستاو. هغه هم په دې هیله چې که وکولای شي، چې د افغانستان سفارت د هند پر ځای په لندن کې جوړ کړي، په همدې موخه امیر سردار ته د خپلو هدایتونو (د تشریفاتي چارو، د القابو رعایتولو، اسلامي موسساتو داعانې ورکولو، د سیاسي خبرو-اترو او نورو) په پای کې په دیرشمه ماده کې ولیکل چې:

"د راتګ پر مهال د انګلستان ملکې ته ووایاست، چې: زما پلار یو ائې یوه هیله څرګنده کړې وه او ماته یې ویلي وو، چې د معظمې ملکې حضور ته عرض وکړم، چې د سرکار والاجناب امیرصاحب له خوا دې د تل لپاره یو د بار وړ استازی په لندن کې مقرر شي، چې تل د ملکې معظمې د حضور او د شهزاده ګانو او نورو د سلامتي احوالات په خپلو سترګو ویني او مونږ ته یې راولیکي او د سرکار والا (اوچت سرکار) مراسلات (لیکونه) را ورسوي او بېرته یې ځوابونه واخلي. له تاسې څخه چې لکه د مهربانۍ مور په شان شفقت لرئ هیله ده، چې زما د پلار دغه هیله ومنئ..."

سردار په ۱۸۹۵ (۱۳۱۲هجري) کې لندن ته ولاړ او د توپ د ۲۱ ډزو په کېدو سره د انګلیسي شهزاده ګانو له خوا ورته هر کلی وویل شو، ملکې سره یې وکتل په رسمي بلنو کې یې ګډون وکړ. یوه نظامي مانوره یې وکتله او یوه فابریکه یې هم ولیدله. سردار به په غونډو کې د پرنس آف ویلز ښي لاس ته کېناست. هغه ملکې ته وویل: پلار مې غوښتل، چې د دوو هېوادونو د دوستۍ د ثبوت په خاطر لندن ته راشي، خو د مزاج ستوماني خنډ شوه، زه ددغې موخې په خاطر راغلم په هند او لندن کې د انګلیسي دوستانو د تاوده هر کلي له لامله مننه کوم، ملکې د امیر د روغتیا په هکله پوښتنه وکړه او د دواړو هېوادونو د دوستۍ په هکله یې خبرې وکړې، خوپه لندن کې یې د امیر د یوه استازي دپاتې کېدو غوښتنه همداسې غلې پرېښوده. سردار تش لاس افغانستان ته راستون شو او امیر دې باندې ډاډمن شو، چې د بهرنۍ خپلواکۍ یو دښمن چاته خپلواکي نه وربخښي، بلکې خپلواکي یې ورڅخه اخلي او باید خپلواکي ورڅخه د تورې په زور واخیستل شي او په توره وساتل شي.

په ۱۸۸۷ کې د بونیر استازي کابل ته راغلي وو او د افغانستان له دولت څخه یې د خپل اطاعت غوښتنه کړې وه او د انګرېزانو د شړلو لپاره یې د نظامي مرستې غوښتنه کړې وه، خو په څرګنده توګه د ډیورنډ تړون د امیر لاسونه تړلي وو، بیا هم په پټه د هغه فعالیت دوام وکړ. په دې لړ کې کله چې د هډې ملا صاحب کابل ته راغلی و. د یوه تنبتیدلي په توګه له کابل څخه سوات ته واستول شو او هلته یې د انګرېز په ضد فعالیتونه پیل کړل. همدا مهال ملامیرمحمد ریزه کوهستاني وویل: امیر د غزوانو مشران ووژل او ملا نجم الدین یې فرار کړ، نو ځکه هغه اولی الامر نه دی او باید سترګې یې د سر له

کاسې ځخه وایستل شي. البته امیر هغه پرې نه ښود او د کابل په جیل کې یې واچاوه، تر څو چې بیا ځرګند نه شو همدا رنګه د باجوړ، کُرمې، تیرا، وزیرو، مسعود او نورو سیمو خلکو څو څو ځله کابل ته عرایض راولیږل او د اطاعت او مرستې هیلې یې وکړې، چې له انګریزانو ځخه خپلواك شي. خو امیر د ډیورنډ له تړون سره سم په ځرګنده توګه کوم فعال حرکت ونه ښود. د بېلګې په توګه ملا پیونده مسعودي په پکتیا کې د امیر د واقعه نګار خلیفه نورمحمد په لاس یو لیك کابل ته د امیر حضور ته راواستاوه، په هغه کې لیکل شوي وو: د مسعود قوم او د وزیرو خلك زما تر مشرۍ لاندې راټول شوي دي او له هرو لسو کورنو ځخه یې یو وسله وال سړی راسره کړی دی. له دې لامله چې نه غواړم د پرنګیانو تابع اوسم او دا هیله لرم، چې یواځې د خدای او پیغمبر د رضا په خاطر ماته سلا راکړې، چې د کاپرانو له شر ځخه خلاص شو، دا ځکه چې شرعي اختیار له تا سره دی، که چېرې امیرصاحب زمونږ استازي ځانته ور وغواړي او مونږ ته د یوه کاز سپارښت وکړي، نو دا د سر په سترګو منو، خو په دې شرط چې د انګلیس له حکم ځخه خلاص شو."

امیر په خپل لیك د هغه ځواب کې ولیکل: "ملا پیونده دې الله وساتي، هغه لیك چې تاسې خلیفه نورمحمد ته استولی و، هغه ماته راواستاوه. د هغو ټولو احوالاتو په هکله پوه شوم، چې تا لیکلي دي. اوس درته لیکم، چې په پښځلسو کالو کې مې چې څومره هلې ځلې وکړې، چې مسعود او وزیر د خدای اورسول امر ومني، د ملکانو او ملایانو د غرض او شخړې موخو له کبله چې خلکو ته یې دوکه ورکړه، زما خبرو ته یې غوږ ونه نیو، ددین او دنیا چارې یې خرابې کړې. اوس نو نور څه نه دي پاتې، چې تاسې یا زما کسانو ته لیك ولیکئ تاسې په خپله په خپلو چارو ښه پوهېږئ، له ما ځخه د پوښتنې ځای نور نه دی پاتې هر څه چې په خپل خیر بولئ په خپله یې وکړئ، که دکولو خبرې وي، هغه مې په تیرو پښځلسو کالو کې ویلي دي، اوس د خبرو کول زیاتی دی، په خپله پوهېږئ او کار مو پوهېږي، خدای دې تاسې ته خیر پېښ کړي."[1]

ملا پیونده یو ځل بیا یو بل لیك خلیفه نورمحمد ته واستاوه او پکې ویې لیکل: "اووه زره له اویا زره کورونو ځخه چې له هرو لسو کورونو ځخه یو تن دی، سره یو ځای شوي په قرآن مجید یې کلکه ژمنه کړې او وایي که مونږ ټول حضرت والا امیر وغواړي کابل ته حاضر یږو، که نه پرته له هغه په غزا باندې پیل کوو."[2]

له دې لامله، چې دغه لیك ته مثبت ځواب ورنه کړل شو، خلك پاڅېدل او له انګریزانو سره ونښتل. ملا پیونده له دوه زره وسله والو سره د سردار ګل محمدخان او امیرعبدالرحمن خان له ممانعت سره سره مخامخ سردار ته راغلل او ویې ویل: په هر ډول، چې کېږي حضرت امیر ته ورځو او هیله کړو، چې د مسعودو سیمه او دوړ به د انګریزانو له واك ځخه آزادوو. او که ممکنه نه وي ویې پلورو او افغانستان ته به راشو نورې ځمکې به واخلو او د اسلام د دولت تر وزر لاندې به ژوند پر مخ بوځو، که دا هم نه کېږي، نو ددغو سیمو ټول خلك به تش لاس په هجرت لاس پورې کړي او افغانستان ته به راشي سردار

---

۱. سراج، دریم ټوك ۱۲۱۹ مخ.
۲. همدغه ټوك، همدغه مخ.

څه ونه ویل، نو ځکه ملا پیونده له دوه زره وسله والو سره مخ په کابل را روان شو او امیر سره یې ګتنه وکړه. په پټه، چې څه وویل شول هغه پټ پاتې دي، خو په ځرګنده سره امیر ورته وویل: د وزیرو، مسعودو، کانیګر، بړیخي، بلوڅو او اڅکزیو ټول هغه خلک، چې د پولو له ټاکلو وروسته یې سېدل افغانستان څخه تجزیه شوې او د انګلیس دولت قبضه کړې ده او خپل ځای کې ورته اوسېدل ګران شوي دي او غوښتل یې، چې په خپله خوښه افغانستان ته را مهاجر شي، کولای شي چې دلته راشي دولت به دوی ته د کفایت په اندازه ځمکه ورکړي، تر څو یو څه هوسا ژوند وکړي."(۱)

له هغه وروسته ملا پیونده او ملګري یې رخصت شول، د کابل خلکو به ویل ارمان د داسې زړور ملت او حیف ددې باتورو خلکو، چې انګرېز ورڅخه ویرېږي، خو خپل پاچایان یې په قدر او ارزښت نه پوهېږي. په هر حال، ملا پیونده بېرته ستون شو. انګلیس له هغوی څخه د اطاعت او انقیاد لیکلي سند وغوښت خلکو ونه منله، له دې وروسته دوی د اوږدې مودې لپاره د جګړې په ډګر کې یو بل سره د ټوپک په ژبه خبرې کولې، تر څو چې ملا پیونده ژوندی و خپلو ملي او انګرېزي ضد مبارزو ته یې دوام ورکړ، تر څو چې په ۱۹۱۴م. کال وفات شو، نو دا مهال یې زوی ملا فضل الدین د خپل پلار ځای ونیو. البته انګرېزانو ددغه سړي په مړینه ډېره زیاته خوشحالي وکړه.

## د امیر مړینه (۱۹۰۱)

امیر عبدالرحمن خان کلونه کلونه په نقرس ناروغۍ اخته و، چې ډېر په کړاو یې اخته کړی و، خو هغه نه غوښتل چې په نوي طب او بهرنیو طبیبانو باندې خپل علاج وکړي، دا ځکه چې په بهرنیانو یې باور نه درلود او په افغانستان کې دننه د طب ډاکتر نه و، نو ځکه یې خپله درملنه په افغاني طبیبانو د پخواني زاړه طب په دود ترسره کوله. امیر په ډېر درد کې ځینې وخت ډېر زیات عصباني او غوسه ناک شخصیت و په داسې مهال کې به دده ټول درباریان ویرېدل، ځکه هغه په داسې وخت ډېر کلک او سخت حکمونه پرته له لږ دقت څخه صادرول. په پای کې امیر د ناروغۍ په وړاندې ماتې وخوړه او دده په پیاوړي طبع باندې ناروغیو برې وموند او له سپاره او پلي تګ څخه پاتې شو، نو د اړتیا پر مهال به د چا په مرسته او په لکړه ګرځېده امیر به کله کله کابل ته نږدې تفریح ځایونو لکه پغمان، ګلباغ، بابر بڼ او بربڼ ته تله البته په دغو سفرونو کې به هم دشاهي ګارد او توپچي ورسره وو دا، ځکه چې امیر د خپلو ظلمونو په وړاندې د خلکو له غبرګون څخه په ویره کې و. هغه په ۱۹۰۱ کې په بربڼ کې و، چې ناروغي ورباندې زیاته شوه او هغه یې له پښو وغورځاوه، خو تر هغې ورځې پورې، چې هغه له نړۍ سترګې پټولې هېڅوک د هغه د ناروغۍ له ډول څخه خبر نه وو او په دربار کې د هغه د ناروغۍ په هکله یو ټکی خبرې هم نه کېده. آن دا چې کله نوموړی مړ شو او په درېیمه ورځ یې جنازه کابل ته راوړل شوه او د هغه د ځای ناستي امیرحبیب الله خان له خولې د هغه مرګ خبر خپور شو، هېچا د هغه د مرګ په هکله خبره نه شوا

۱- سراج، درېیم ټوک ۳۲- ۱۳۳۱ مخونه.

کولای دا څکه یو وخت امیر په پغمان کې و او په کابل کې وبا خوره شوې وه، یو جاسوس د یوه قاضي له خولې راپور ورکړ، چې ویلي دي: امیر د وبا له لامله په پغمان کې مړ شو امیر پر ته له تحقیق څخه قاضي پغمان ته ور وغوښت او ورته یې ویل: وګوره چې زه ژوندی یم، خو ته به مړ شې بیا یې نو امر وکړ او هغه یې په یوې ونې کې له ستوني څخه ځوړند کړ.

د امیر یوه محرم او ډېر باوري طبیب مرزا محمد ابراهیم خان، چې یو ادیب او تاریخ لیکونکی سړی و او د امیر درملنه د هغه تر نظر لاندې وه او د امیر ډوډۍ تووله د سلطنتي مهردار (چې وروسته بیا امین اطلاعات شو) ناظر محمد صفیر خان تر نظر لاندې برابریده، په هر حال په برېن کې د امیر د وروستی ناروغۍ پر مهال مرزا د امیر له کوټې څخه د کوم کار لپاره بهر ووت او بېرته راوګرځېد په همدې ترځ کې امیر ته د درملو یو جام ورکړل شوی و، مرزا د بېرته راتګ پر مهال د پیش خدمت لاس کې تش جام ولید، ورڅخه وایې خیست هغه یې بوي کړ، له هغه څخه یې وپوښتل، چې دا څه دي، پیش خدمت ځواب ورکړ دا د هغو درملو جام دی، چې مشر سردار صاحب (سردار حبیب الله خان) امیر ته ورکړ. په همدې شېبه سردار د امیر له کوټې څخه راووت او مرزا یې یوه کلکه څپېړه ورواهه ورته ویې ویل: امیرصاحب ویده دی او ته لوړ غږ باندې خبرې کوې. داوخت پیش خدمت له جام سره رخصت شو او په خپله د امیر کوټې ته بېرته ستون شو، په هغه سبا د شنبې په ورځ د ۱۳۱۹ کال د جمادی الثانی په نهمه (د ۱۹۰۱ کال) باندې امیرعبدالرحمن خان له نړۍ څخه سترګې پټې کړې وې. د امیر مرګ تر دریو ورځو پورې پټ وساتل شو. په همدې موده کې امیر حبیب الله خان ته د بیعت او عسکرو ترتیبات ونیول شول. د پاچا له دغو بدلیدو څخه په ټول هېواد کې څوک ناراضه نه و، ټول ددغه غوسه ناک پاچا په مړینه خوښ وو، آن دا چې د امیر له مړینې وروسته یو شمېر کسانو د هغه په قبر باندې اور بل کړ، چې د هغه د قبر خانه سامان باشي نفیس خان پنجشیري باندې امیر حبیب الله خان ډېر په غوسه شو او سزا یې ورته ورکړه، وروسته له دغې پېښې څخه یې د قبر د محافظینو شمېر زیات کړ. امیر حبیب الله خان د تلې د میاشتې په لسمه نېټه د خپل پلار مړی کابل ته راوړ او خاورو ته یې وسپاره حال دا، چې په خپله له خښولو څخه مخکې د کابل د دربار او پوځ له لوري د پاچا په توګه اعلان شوی و، خو مرزا محمد ابراهیم خان ۱۸ کاله له دربار او ماموریت څخه لرې کړل شو او په خپل کور کې پاتې شو، آن دا چې د هغو درملو بیه هم له ده څخه واخیستل شوه، چې امیر عبدالرحمن خان ته یې جوړه کړې وه. د امیرحبیب الله خان له وژل کېدلو څخه وروسته مرزا یو ځل بیا د امیر امان الله خان د زړه سوي وړ وګرځېد او هغه مهال به یې خپلو نږدې دوستانو سره ددې پېښو په هکله کیسې کولې.

Scanned by CamScanner

# افغانستان د امیر حبیب الله خان د سلطنت پر مهال (۱۹۰۱–۱۹۱۹)

امیر حبیب الله خان ته د خپل پلار تر مړینې وروسته یو آرام هېواد، پیاوړی پوځ او روغ حکومت پاتې و. هغه په آرامۍ سره یې پاچاهي وکړه، امیر حبیب الله خان اتلس کاله حکومت وکړ، چې په دې موده کې په بېلا بېلو بنو راښکېل شو. هغه په پیل کې له ځان څخه تقوا ښودله او دین پالنه یې کوله. یوه ورځ یې په عام دربار کې د یوې وینا په ترڅ کې وویل: د اسلام په شرع کې یوه نارینه ته په یو مهال کې له څلورو څخه زیاتې ښځې روا نه دي، حال دا چې هغه له پخوا څخه پینځه ښځې درلودې، نویوې ته یې له همدې نن ورځې څخه طلاق ورکړ. همدا رنګه امیر امر وکړ، چې وروسته تر دې څخه په افغانستان هېڅ ښځې ته د سپینې بُرقې د اغوستو اجازه نشته، چې ابرك وربانديې وهل شوي وي او په بازارونو کې وګرځي یا زیارتونو ته ولاړې شي. مرزا یعقوب علي خافي خپل کتاب (پادشاهان متأخرین افغانستان) په دوهم ټوك کې په دې هکله داسې لیکلي:

"امیر حبیب الله خان د خپلې پاچاهۍ په پیل کې امر وکړ، چې د ابرك یا چکن لرونکو سپینو برقو لرونکې ښځې دې دا ډول بورقې (برقع) نه اغوندي، بلکې برقع باید خړ رنګ ولري او هېڅ ډول سینګار باید وربانديې نه وي. ښځې باید پرته له ډېر ضروري کار څخه بهر ونه وځي او بازارونو کې د خلکو مخ کې ونه لیدی شي که نه سزا به ورکړل شي. ددغه کتاب لیکونکي دا هم لیکي، چې د امیر دوست محمد خان له مهال څخه بیا تر دې وخت پورې بل هېڅ پاچا دا کار نه و کړی، خو یو مهال سردار محمد یوسف خان (د سردار دوست محمد خان زوی) چې د خپل پلار د پاچاهۍ په وروستیو کې د کابل حاکم و، یوه ورځ یې یوه ښځه په بازار کې په داسې بڼه ولیده، چې سم حجاب یې نه و، نو امر یې وکړ، چې هغه دې په یو جوال کې واچوي او تر هغه پورې یې په لرګیو ووهله تر څو، چې مړه شوه"(۱) (۱۹۵ مخ)

امیر حبیب الله خان په دغو ظاهري امرونو بسنه ونه کړه، دا امر یې هم چې باید د کابل د ښار د خرابات د کوڅې سندرغاړي او نڅاګرې باید په په زور سره له سندرو ویلو او نڅا څخه توبه وکاږي او په دغه سیمه کې یې نورخلك مېشت کړل محمود طرزي په دې هکله په سراج الاخبار کې داسې ولیکل:

"اعلیحضرت د کابل ښار ښځې زیارتونو، بازار او د ګرځېدو ځایونو ته له اهاړ ورکړل شویو چین لرونکو سپینو برقو سره له تلو څخه راوګرځولې او د چادري رنګ په خړ بدل کړ او کنچینانو (سندر بولو او نڅا ګرو)، ټولو توبه وکړه او د کنچنیانو په کوڅه کې نور خلك مېشت شول" (د سراج الاخبار د ۱۹۱۲م. کال- ۱۳۳۱هـ.ق د ذی الحجی د میاشتې څلورمه ګڼه)

دا یوازې نه، بلکې امیر امر وکړ، چې د افغانستان هندوان باید ژېړې لونګۍ وتړي او ښځې به یې هم ژېړې بورقې اغوندي تر څو یې له نورو سره توپیر وشي. همدا رنګه هغو هندوانو ته، چې مسلمان شوي وو، له ۳۰۰ څخه تر ۷۰۰ روپیو پورې نغدې پیسې او د دولت له خوا یو جوړه جامې د انعام په توګه ومنل شوې. امیر حبیب الله خان د افغانستان په یوڅلسو ښارونو کې د قرآن د حفظ یوولس مدرسې جوړې کړې، چې ۱۴ تنه ښوونکي او ۱۴۰ تنه زده کوونکي یې لرل هر زده کوونکي له ۳- ۲ کالو پورې موده کې د قرآن حفظ کاوه. د دې ټول لګښت، کور او ډوډۍ د دولت له خوا وو. ددغو مدارسو لومړۍ

دله بینا او ړانده حافظان ۳۰ تنه وو . همدا رنګه امیر امر وکړ، چې ټولې د تیږو لوحې، چې په هغو باندې د قرآن عظیم الشان آیتونه لیکل شوي دي، او تاریخي قبرونو د تیږو لوحې، چې د زیارتونو او هغه د عید ګاه په جومات کې ولګول شي. امیر به وروسته بیا د هرې روژې په میاشت کې هره شپه د کابل بیوزلو خلکو ته روژه ماتی ورکاوه (په اوړي کې به یې په حضوري چمن کې دسترخوان غوړاوه) د سراج الاخبار د یوې احصائیې له مخې د روژې په پای کې ددغو بلل شویو شمېر تر ۴۱۲۰۱ تنو پورې رسېد. امیر په ۱۹۰۲ کال کې کله چې په افغانستان باندې وبا او وچکالي راغله د (سراج الامله والدین) لقب غوره او په یوه دربار کې یې وویل، چې د یوه ملت او دولت ترقي پرته د علم له ترقي څخه امکان نه لري. زما هوډ دادی، چې هېواد کې ښوونځي جوړ کړم. هر هغه څوك، چې د معارف او ښوونځیو په هکله کوم فکرونه لري، په لیکلي توګه دې اعتماد الدوله ته وسپاري. تر څو یې بیا زه ولولم او وروسته تر سلا -مشورې څخه به هغه اصول عملي کړو، چې دغه موخه ورباندې ترلاسه شي.
همدا رنګه امیر حبیب الله خان یو شمېر نور کورني اصلاحات هم پیل کړل او د خلکو پام یې ځانته واړاوه. هغه امر وکړ، چې د افغانستان موجود غلامان (مریيان) او وینځې، چې دده د پلار د دورې یادګار وو ،وروسته تر دې یې پلورل او پیرودل بند دي، خو دهغوی آزادي یې اعلان نه کړه، همدا رنګه ده امر وکړ،چې باید ټول نارینه او ښځینه بندیان، چې دده د پلار په دوره کې بندي شوي تر څېړنې لاندې راوستل شي، بې دوسیې بندیان دې خوشې شي او دوسیه لرونکي بندیان دې وروسته تر تحقیق څخه ده ته راوستل شي تر څو سزا ورته وټاکل شي، په دې توګه د کابل ویروونکي جیلونه مخ په تشېدو شول. په ۱۹۱۱م. کال امیر د کابل د بندیانو فیصله، چې ټول ۱۲۰۰ کسان وو په خپله غاړه واخیسته او د بندیانو د دربار په ورځو کې به یې په ژمي هغوی ته ډوډۍ او پوستینونه ورکول تر څو چې خوشې شول. امیر د کوتوالۍ د بندیانو په کتاب کې په خپل قلم داسې ولیکل:
"سر له نن څخه یعنې، ۱۳۳۰ قمري کال د ذیقعدی له ۲۹مې وروسته دانسان ړندول موقوف دي، ددې پر ځای به ۱۲ کاله بند تیروي، د غوږ پرې کولو پر ځای به شپږ کاله بند تیروي او د لاس د پرې کولو پر ځای به (په غیر شرعي کې) لس کاله بند تیروي، دغه فقرې د یوه حکیمي سیاسیت دي. او که چېرې شرعي وي نو السن بالسن والجروح قصاص. دغه حکم مې ولیك او په الهي توفیق سره به زه خپله په همدې قرار چلند کوم. انشاءالله تعالی- د افغانستان هغو پاچایانو ته چې وروسته تر ما به راځي، که زما اولادونه وي، هغوی ته دغه فقرې د وصیت په توګه پرېږدم او که زما اولادونه نه وو، نو هغوی دې یو نصیحت وګڼي. فقط·

خو سره له دې هم امیر حبیب الله په لاندنیو برخوکې دغه مقررات په خپله تر پښو لاندې کړل: د سردار محمد اسحق خان لمسی او د سردار محمد اسمعیل خان زوی سردار محمد عظیم خان، چې له ماورالنهر څخه راستون شوي وو او، چې د کابل د بیني حصار په قلعچه کې یې د سردار محمد عزیز خان نادر په کور کې هستوګنه غوره کړې وه، یوه ورځ یې خوب ولید ، چې په سرو جامو کې په آس باندې سپور دی. دده خوانو ملګرو خوب داسې تعبیر کړ، چې یوه ورځ به پاچا شي. ددغه خوب او د هغه د تعبیر راپور

Scanned by CamScanner

امیر ته ورسول شو. دغه بې ګناه ځوان په ارګ کې جیل ته واچول شو او د محمدزیو د سردارانو د مشرانو په ګډون قضا یې مجلس جوړ شو په دغه غونډه کې زیاترو دغه تورن د حبس او یا هم د هغه د تبعید په هکله نظر ورکړ، سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله ددغه بې ګناه د وژلو په هکله نظر ورکړ. نایب السلطنه سردار نصرالله خان خپل کوچنی چاقو له جیب څخه راوکیښ او ویې ویل، چې په دې کوچني چاقو اوښ هم حلالیدی شي، همدا رنګه یو کوچنی دښمن یو ستر پاچا له منځه وړای شي په دې توګه امیرحبیب الله خان امر وکړ او تورن د ارګ باغ ته بوتلل شو او په وحشیانه ډول یې سنګسار کړ (د ۱۲۹۱هـ ش د غوایي میاشت.)

همدا رنګه امیرحبیب الله خان د خپلې پاچاهۍ په پیل کې یوه ځوانه ښځه (د سردار محمدسرور لور، چې میرمن نومیدله) د امیر عبدالرحمن د پاچاهۍ پر مهال د مینې په تور د کابل د کوتوال په لاس ړنده او د هغې دوه سترګې یې په نشتر ووهلې، دغې ښاییسته ښځې بیا وروسته ځان د الماسو په دوره مړ کړ،دا په داسې حال کې، چې د هغه مین محمد ابراهیم د نجارباشي استاد احمد زوی چې د کابل ښاریو ډېر ښکلی زلمی و، لا د مخه په دار وځړول شوه. په هر حال امیر ډېرې سختې سزاګانې او شکنجې لکه قین او پانه، تیل داغ او نور منع کړل. دده یو په زړه پوري کار دا و، چې په کابل او هرات کې یې د خپل پلار د دوران توري ځاګانې (سیاه چاه) ونړولې او د هغو بندیان، چې له مړو سره یې توپیر نه کېده راوکښل. د هغوی د هډوکي په شان ډنګر لوخ بدنونه او هغه سترګې چې رڼا یې نشو لیدلای د دوی ښه وه. ما لیکوال د خپل کوچنیوالي پر مهال دغه خواشینونکې پېښه لیدلې وه. کله چې دغه ډول ۵۴ تنه بندیان د کابل د بالاحصار له سیاه چاه څخه راوکښل شول او په خرو باندې یې اچولي وو او د کوتوالی اداري ته یې بیول ما ولیدل. امیر د هېواد د پور وړیو مالیه ورکوونکو پاتې مالیات، چې ۲۰ څخه تر ۳۰ میلیونه روپۍ کېدې ور وبخښلې. هغه د خپل پلار د دورې ټولو تبعید شویو ته اجازه ورکړه، چې له بهرنیو هېوادو څخه افغانستان ته راستانه شي او د یو شمېر و مصادرو شویو شتمني یې هم بېرته ورکړه او یو شمېر یې د دولت په ماموریت کې هم وګومارل.

## فرهنګ

هغه یو مهم کار، چې په دغه دوره کې ترسره شو، هغه په افغانستان کې د معارف او نوي فرهنګ د بنسټ د ډبرې کېښودل و. د هېواد لومړنۍ لیسه د حبیبیې د لیسې په نوم په ۱۹۰۳ په کابل کې تأسیس شوه. دغې لیسې درې درجې درلودې: لومړنۍ، رشیدیه او اعدادیه په څلورو لومړنیو ټولګیو کې د دینیات، دري، حساب، جغرافیې او د لیك د مشقونو لستونه زده کېدل، په رشدیه دوره کې درې کاله دینیات، تاریخ، جغرافیا ،ژبه (دري، پښتو، انګرېزي اردو یا ترکي). رسم، حفظ الصحه، رقوم او سیاق تدریس کېدل.

په اعدادیه کې هم درې کاله دینیات، دري، تاریخ، جغرافیا، جبر او مقابله، مثلثات، تحلیلي هندسه، جراثقال، طبیعي حکمت، کیمیا او انګلیسي ژبه تدریس کېده. په جوماتونو کې امر شوی و، چې باید

Scanned by CamScanner

د ماشومانو روزنه د معارف د رسمي پروګرام سره سم او د رسمي ښوونځيو د مامورينو تر نظر لاندې پر مخ بوتلل شي. ددغې ليسې شپږ نور لومړني ځانګې د کابل د ښار په نورو سيمو کې د باغ نواب د لومړني ښوونځي د تنورسازۍ د خافيانو د کوڅې، پرانچه، د عالي حضور دخدام او دهندوانو د لومړنيو ښوونځي په نومونو جوړې شوې.

امير حبيب الله د خپلې پاچاهۍ په وروستيو کې امر وکړ، چې ددغې ليسې په لومړنيو ټولګيو کې يو ځانګړې ټولګۍ د عظامو شهزاده ګانو په نوم هم جوړ شي، خو د مکتب وړ شهزاده ګانو شمېر له څلورو شهزاده ګانو څخه زيات نه وو. شهزاده عبدالمجيد خان، شهزاده اسدالله خان، شهزاده محمدامين، او شهزاده محمد علي خان. نو امير امر وکړ، چې ددغه ممتاز ټولګي شمېر دې د محمدزيو له سردار زاده ګانو څخه پوره شي. د لويو سردار زاده ګانو شمېر ۱۴ تنه شو او ټولګي لوست پيل کړ. داسې ټاکل شوې وه، چې دوی به د نورو ټولګيو له نصاب څخه پرته يو څه نور اضافه مضامين هم لولي.

د حبيبيې په ليسه کې د ټولو زده کوونکو شمېر ۲۷۹ تنه او د ښار په لومړنيو ښوونځيو کې يې شمېر ۷۰۰ تنه وو، وروسته بيا دغه شمېر ۱۵۳۴ تنو ته ورسېد. د ښوونکو شمېر ۵۵ تنه وو، چې په دې کې د ټولو ښوونځيو لپاره دوه تنه نظامي ښوونکي د عسکرۍ تمرين په خاطر ګومارل شوي وو. په کابل کې يو لومړنۍ دارالمعلمين، چې د درې کلن نصاب او ۸۰ تنو استادانو لرونکی و هم جوړ شو، چې وروسته تر درې کالو به يې په هره دوره کې ۳۰ تنه د ابتدايي دورې ښوونکي فارغ کول. د افغانستان په نورو ښارونو کې سيمه ييز ښوونکي په پخوانيو زړو طريقو د خلکو په لګښت په جوماتونو کې په تدريس بوخت وو. په نورستان کې دولت شپږ ښوونځي په درې ژبه د دينياتو د تدريس لپاره پرانيستل، چې ديشمل، شکيابې، وايګل، شاهي کلا کاشمندې په کليو کې وو او ۲۵۰ زده کوونکي يې لرل او ۱۲ ښوونکي او ملايان په تدريس ورکولو پکې بوخت و.

دغه کوچنۍ ملکي معارف په پلازمينه کې (پرته د حربيې او د هغه د ځانګو له بوديجې څخه) يوه ډېره کمه اندازه بوديجه لرله، چې يو سل او څو زره روپۍ کېدې. دغه معارف يو څه تشکيلات هم لرل لکه: يو لابراتوار، چې بيت الحکمته بلل کېده، بيت الرسم (د مسطحاتو او مجسماتو دعملي او نظري رسم لپاره د نقشو آلات) يو بيت العلاج (روغتون)، يو کتابتون د درسي لوازمو يوه تحويلخانه او يو دفتر، چې دوه کاتبان پکې وو. ددغو تشکيلاتو په سر کې د معارف انجمن و، چې رئيس يې سردار عنايت الله خان معين السلطنت و. همده د معارف ټول حکمونه ورکول. ددغه انجمن غړي درې تنه افغانان (شا آغاسي عبدالحبيب مولوي عبدالرب خان (د لومړنيو ښوونځيو مدير) او منشي مرزا محمدعمر خان) وو، درې تنه ترکي ښوونکي او مستخدمين ورته ګومارل شوي وو (حسن حلمي افندي، محمد فضلي رسام او علي افندي) څلور تنه هندوستاني ښوونکي (حافظ احمدالدين، قادربخش، ارشد او مولوي معراج الدين) هم په کې ګومارل شوي وو، چې د انجمن نظامنامه يې جوړه او د مدارسو د تعليم نصاب يې تنظيم او برابراوه. کله چې د مشروطيه پېښه وشوه، معارف عالي شورا د نظامنامې د کنټرول او د تعليم د نصاب د سمون په خاطر د نايب السلطنه تر مشرۍ لاندې او د معين السلطنه، سپه سالار

Scanned by CamScanner

برګیډ احمد جانخان هندي، عظیم الله خان مستوفي الممالك، شاه آغاسي ملکي علي احمد خان، برګیډ احمد جانخان هندي، عظیم الله خان ترجمان، د کابل قاضي القضات، مولوي عبدالرؤف خان مدرس او حاجي عبدالرزاق خان د میزان التحقیقات دمشر او منشي عبداللطیف خان په غړیتوب جوړه شوه، خو یو شمېر هندي ښوونکو چې په هند کې د انګلیس د تعلیمي اصولو تر اغېزې لاندې وو، ځینو یې په قصد او ځینو یې په ناقصدي او عاتي توګه د کابل معارف محدود او آن ښځي له کاره غورځاوه. دا ځکه چې دوی لیدلي وو، چې د انګلیس معارف بېلا بېل اصول لري، د بېلګې په توګه په انګلستان کې د ښوونځیو پروګرام یو ډول و، خو د استرلیا په ځایي ښوونځیو کې بل ډول و، خو په هند او پنجاب کې بیا ښځي بل ډول و. په هند کې عالیه حربي ښوونځي نه وو. په پنجاب کې سیاسي فلسفه، دیني فلسفه، او د عقلي روزنې علوم، انجنیري او کان پېژندنه نه تدریس کېدل. د هند مسلمانانو زده کوونکو ته د فزیك او کیمیا عالي علوم او نور، چې د دیني او عربي لوستونو بالمقابل وو، نه تدریس کېدل، دا ځکه چې یو هندي مسلمان باید له هغو څخه یو یې غوره کړی وای، خو هغوی به په دین پسې ولاړل او عالي علوم به پاتې شول، په کابل کې هم هغه د انګلیسي ژبې تدریسي کتابونه چې په هند کې لوستل کېدل، تدریس کېدل، چې په هغو کې د افغانانو په هکله له سپکاوي ډک مندرجات او یو شمېر تورونه لګول شوي. همدا رنګه یې د حبیبې په لیسه کې د پښتو ژبې پر ځای د انګلیسي ژبې ته ځای ورکړ، تر څو زده کوونکي له هغه څخه یوه غوره کړي. له دې لامله، چې هندیانو د کابل د ژمي زغم نه درلود، په ژمي کې به یې لیسه وتړله او هند ته به تلل. دا مهال به اووه اته سوه د ریاضي سوالونه زده کوونکو ته پرېښودل، چې تر بېرته راتګ پورې هغه حل کړي. دغه کار د تفریح او رخصتۍ په ورځو کې د شاګردانو مغزو ته د یوه څټك مثال درلود، دې سره یو ځای نورې په لسګونو منفي طریقې دود وې. د حبیبې په لیسه کې افغاني فعال او نامتو استادان دا وو: مولوي محمد سرور خان کندهاری، میرسید قاسم خان د تاریخ ښوونکی. مولوي مظفرېنوڅی، مولوي غلام محی الدین خان. هندي نامتو ښوونکي دا وو: داکتر عبدالغني او د هغه ورونه (مولوي نجف علي خان او مولوي محمد چراغ خان) سره له دې، چې د حبیبې د لیسې فارغان ډېر لږ وو او وروسته تر ۱۴ کلونو څخه ایله ۱۹ تنه بکلوریا څخه فارغ شول، خو د نویو غورځنګونو د پیل په توګه یې ډېر ارزښت درلود، چې افغانستان د نویو دیموکراتیکو غورځنګونو یو مرکز و.

حربیه ښوونځي په ۱۹۰۹ کې په کابل کې جوړ شو، چې درې اعدادي او درې حربي ټولګي یې لرل، په دغه ښوونځي کې لاندیني عملي او نظري مضامین لوستل کېدل: قرآن، لیك حساب، هندسه، جغرافیه، جمناستیك، پیاده تعلیمات، د طبیعت معلومات، د اسلام تاریخ، صرف او نحوه، اثباتي هندسه، اعشاري ریاضي اصول، پلي مسلکونه، سپاره مسلکونه، توپچي، استحکام، مخابره، الجبر او عمومي تاریخ. لاندیني افغاني ترکي استادان پکې وو: علي افندي، نظیف افندي، عزت افندي، چې د دوی په سر کې خیرالدین پاشا ارکان حرب، عبداللطیف خان کمیدان، محمد ګل خان کمیدان، محمود طرزي، قاري عبدالله خان، عبدالغفور ندیم، قاضي عبدالحق خان، میر آقا خان او یو هندي د جمناستیك ښوونکی د شاه جي په نوم و. د ښوونځي اداري هیئت په لاندې توګه وو: مرزا محمد

اسمعيل خان (چې د کابل د روغ اندو له ډلې څخه و)، مرزا عطا، مرزا يعقوب خان، مرزا محمدعثمان خان، مرزا عبدالرحمن خان، ناظر عبدالرحيم خان او کميدان نور محمد خان. د ښوونځي تفتيش غلام جيلاني خان د کوټوالۍ د غونډ بريګډ او عمومي ناظر سپه سالار محمدنادرخان و. د ښوونځي مُدير په پيل کې محمود سامي (چې پخوا په بغدا کې د جمناستيك ښوونکی و) چې په ۱۹۱۱م. کال کې د نادره اداري او مضريت له لامله له دندې لرې او بيا له افغانستان څخه وايستل شو او په هند کې مېشت شو، نود مديريت دنده علي افندي ته وسپارل شوه. د حربيې د ښوونځي زده کوونکي شمېر په پيل کې ۱۵۰ تنه او بيا تر ۴۰۰ تنو پورې او په پای کې تر ۹۰۰ پورې ورسېد.

معين السلطنه او عين الدوله د دغه ښوونځي له لومړنيو زده کوونکو څخه وو. د حربيې ښوونځی يو پراخ بڼ او لويه ودانۍ لرله، چې په هغې کې روغتون، وسله تون او د لوازمو تحويلخانه هم وه. د زده کوونکو جامې او ماکولات د دولت له خوا ورکول کېدل. د دغه ښوونځي فارغان د افغانستان په اردو کې د ټولي مشر له رتبې څخه، دکنډك مشر تر رتبې پورې منل کېدل. د حربيې ښوونځي په خپله ښوونځي څخه بهر نوري درې ځانګې هم درلودې، چې هغه دا وې: د خوردضابطانو ښوونځی، چې د ملکزاده ګانو عسکري مکتب هم بلل کېده. د جديد الاسلام عسکري مکتب يا (د نورستانيانو مکتب) او د حضور د اردليانو عسکري مکتب. د دغو درېواړو عسکري مکتبونو زده کوونکو شمېر ۳۰۰ تنه وو او وروسته تر هرو څلورو کالو څخه به د بلوکمشر په سويه څو تنه ورڅخه فارغ کېدل. دوی به په خپلو ښوونځيو کې د دينيات، دري حساب، جغرافيې، عملي او نظري نظامي معلومات او سپورت زده کول. د دې ښوونځي لګښتونه دولت له خوا ورکول کېدل.

له دې پرته په دغه دوره کې په هېواد کې د ټيپوګرافۍ نوې مطبعه (چې د بخار درې ماشينونه او مجلد خانه يې لرله) او د زنګوګرافي مطبعه په کار واچول شوې. د ليتوګرافي مطبعې نوره پراختيا وموندله او ليك او تيرې تورېلو پرمختګ وکړ. سراج الاخبار، سراج الاطفال، د محمود طرزي آثار او نور ببلا بېل آثار په همدغه دوره کې په همدغو مطبعو کې چاپ شول.

## يو شمېر نور نوي موسسات

په ۱۹۰۹م. کال کې د لومړي ځل لپاره په بمبئ کې د (د ملر) له کمپنۍ څخه موټر وپيرودل شول او په کابل کې يې په ګرځېدو پيل وکړ. له کابل څخه ۵۷ کارګران بمبئ ته واستول شول، چې د موټرو تخنيکي چارې لکه د باډۍ او سيټ جوړول، رنګول او پنبګري، ډريوري او نورې چارې زده کړي او دوی بېرته راستانه شول او نور شاګردان يې وروزل. خو بايسکيلونه تر دې مخکې هېواد ته وارد شوي وو. د موټرو يو شرکت هم د درباريانو په واسطه جوړ شو. په همدې کال کې په کابل کې د څرمن جوړولو يوه فابريکه جوړه شوه، چې مشر يې يو انګليسي متخصص (تارِنتن) و. د دغې فابريکې د بوټانو، موزې او سليپر لپاره د اړتيا وړ څرمن جوړول او د افغانستان د اردو اړتيا يې پوره کوله او يو څه يې د کابل بازارونو ته د پلورولو لپاره وړاندې کېدل.

Scanned by CamScanner

په ۱۹۱۰م. کال کې په کابل کې یتیم خانه جوړه او د هغې د لګښتونو د پوره کولو لپاره یوه عمومي عکاسخانه او په حضوري چمن کې یوه قهوه خانه جوړه شوه، چې ګټه یې یواځې په یتیم خانه باندې لګېده. امیر ۱۸ زره روپۍ یتیم خانې ته اعانه ورکړې وه او له مامورینو او خانانو څخه یې هم یو څه اعانه ترلاسه کړه. د کوتوالۍ سر دفتر مرزا محمد یوسف خان د کابل د دوهم چوك شاته په خپلو پیسو یوه عمومي قهوه خانه جوړه کړه.

په ۱۹۱۴م. کال کې د کابل د وړۍ اوبدلو فابریکه د بخار د ۵۰۰ هسپاور په قدرت په کار واچول شوه او په ۱۹۱۴ کال یې په تولید شروع وکړه. دغې فابریکې په پیل کې په یوه کال کې پنځوس زره افغاني سرتیرو ته عسکري دریشي ګانې جوړولې او یوه اندازه یې د سرچو په بازار کې پلورل کېدل. فابریکې دې ته په تمه وه، چې په جبل السراج کې د برېښنا فابریکه جوړه شي، چې د برېښنا په راتګ سره به یې قدرت له ۵۰۰ هسپاورو څخه ۱۵۰۰ هسپاورو ته لوړ شوی وای او تولید به یې درې څله زیات شوی وای، خو د جبل السراج فابریکه باندې کار په ۱۹۰۷م. کال کې پیل شو.

د هغو لومړني سامانونه د یو نیم میلیونو کلدارو په بیه له بهر څخه وارد شول او د یوه بهرني انجنیر (جوت کار) تر نظر لاندې یې په کار پیل وکړ، خو دغې فابریکې ۱۲ کاله وروسته (په ۱۹۱۹) د یوه هندي انجنیر (عزیزالله خان) په واسطه کابل روښانه کړ، د کابل په حربي فابریکه کې هم د لومړي ځل لپاره سپین باروت یا لوګي نه لرونکي باروت د ترکي رضابیګ په لاس جوړ شول.

کابل-ننګرهار تر منځ د تیلیفون د مزي غځول (۱۹۰۹- ۱۹۱۰) پورې له کابل څخه تر جبل السراج پورې بشپړ شول. په ۱۹۱۱م. کال کې د کابل ملکي روغتون جوړ شو او ترکي ډاکترانو یې کار پیل کړ. د روغتون مدیر ډاکتر منیر یو ډېر تکړه جراح و. دغه روغتون ۲۵ دایمي بسترونه او پینځه احتیاطي بسترونه لرل. په دغه روغتون کې د شري د هغو ځاځکو پر ځای، چې پخوا له هند څخه راتلل، دلته له خوسي څخه د شري ځاځکي ترلاسه شول او بقري جدري تلقیح عمل پکې ترسره شو. په لومړي کال کې د بستر شویو ناروغانو شمېر ۱۹۵ تنه او د مړینو شمېر ۱۸ تنه وو. د ټولو راغلیو ناروغانو شمېر یې ۲۹۴۲۲ تنه وو په دوهم کال کې دغه شمېر تر ۵۱۸۲۹ تنو پورې ورسېد. نظامي روغتون جلا او تر دې څخه کوچنی و، چې د هندي ډاکترانو په واسطه درملنه پکې کېده. دغه روغتونونه دواړه په کابل کې وو، خو له هغو څخه کار اخیستل د کابل د شا و خوا سیمو خلکو ته هم ناشوني وو، په تیره بیا د وباد پېښو پر مهال ټولو خلکو ورڅخه ګټه نشوه اخیستلای، د بېلګې توګه کله، چې په ۱۹۵۱ کال کې یوا وبا راغله په ۴۱ ورځو کې یواځې په کابل ۱۴۲۲ تنه ورباندې اخته او ۸۸۳ تنه یې مړه شول. دغه وبا درې میاشتې خوره وه همدا رنګه د ۱۹۱۸م. کال په انفلونزوا کې په افغانستان کې ډېر خلك مړه شول. د کابل دده خدایداد په کلي کې، چې ۳۰۰ تنه وګړي یې لرل د هغې ۲۵۰ تنه مړه شول په پغمان کې په څلورو ورځو کې ۱۵۰۰ تنه مړه شول البته په لغمان، کونړ، لوګر، پکتیا او نورو ولایتونو کې مړینې لا زیاتې وې، خو لکه د کابل په شان د هغو احصائیه نه وه موجوده، نو ځکه د مړینو شمېره ناڅرګنده پاتې شوه. په دغسې بدو ورځو کې به د کابل هغو طبیبانو، چې پخواني زاړه طب باندې به یې د خلکو درملنه

کوله، تر خپل وس پورې په زړه سوي سره د خلکو خدمت کاوه لکه مرزا محمدابراهیم خان، مرزا عبدالغني خان، مرزا عبدالنبي خان، مرزا عبدالقدوس خان مرزا عبدالقدیر خان، مرزا عبداللطیف خان، مرزا تاج محمد خان، مرزا محمداسحق خان او څو تنه نور.

په ۱۹۰۷ کې د کندهار د نهر سراج کار د بیګار په زور پیل شو. دغه نوې ویاله له هلمند سیند څخه وکیندل شوه د کندهار د والي سردار محمدعثمان خان په زور سره په خلکو باندې وکیندل شوه. همدا رنګه د جلال آباد د نهر سراج کار پیل شو. په همدغه کال کله، چې امیر حبیب الله د هند له سفر څخه د کابل،غزني، کندهار، فراه، هرات، میمنې، بلخ او قطغن له لارې راغی، نو د غزني د اوبو بند یې د پینځه سوه زرو روپیو په لګښت یو ځل بیا ورغاوه، چې له هغه څخه سل زره جریبه ځمکه خړوبیدله. دغه کار د غزني د نایب مستوفي الممالك مرزا عبدالاحدخان غزنوي په نه ستړي کېدونکو هلو ځلو او د خلکو په زور د اسکاتلندي (ملر) تر څارنې لاندې پر مخ ولاړ او په ۱۹۱۲ کې یې پنځوس زره ځمکه خړوبه کړه. همدا رنګه امیر د پغمان د اوبو رسولو د نل غځول د کابل ښار ته د اوبو رسولو په خاطر پیل کړ، چې دا هم دده له دورې وروسته لکه د جبل السراج د بریښنا په شان کابل ته راورسېد: حال دا، چې مخکې له دې د کابل د څښاك اوبه د کابل له کوچني سیند او د پل مستان له ویالې څخه ترلاسه کېدې، چې پاکې نه وې. ددغې دوو یو ډېر مهم کار د هېواد د پخوانیو سړکونو او لارو بیا رغونه وه او د موټرو د تګ نوي سړکونه جوړ شول. د کابل-جلال آباد ، پغمان، کابل جبرالسراج- کابل-لوګر کابل- غزني او یو شمېر نور- سړکونه همدا مهال جوړ شول. همدا رنګه ټول هېواد کې کاروانسرایونه جوړ شول او د سراجیه پړاو نومونه ورباندې کېښودل شول. دغه پړاوونه ټول خلکو جوړ کړل، په هر پړاو کې یوه برخه د بار وړونکو ځارویو لپاره او بله برخه د خلکو د کښېناستو لپاره وه. په هر پړاو کې زیرمتون د بوسو زیرمه، د غلې د ساتنې ځایونه او د سون توکي وو، چې ټول یو ګودامدار ته سپارل شوې، و ګودامدار به په ټاکلې بیه په کاروانونو اومسافرو باندې پلورل، دغه غله او دځارویو لپاره بوس به د دولت د جنسي مالیاتو په بڼه د بزګرانو او نورو مالیه ورکوونکو له خوا دغو ګودامونو ته رسول کېدل. له یوه پړاو څخه تر بل پورې شپږه کروړه واټن په پام کې نیول شوی و هر کروړ د افغانستان د جریب په ګز باندې څلور ګزه کېږد. د جریب یو ګز له انګلیس ۲۹ انچه سره برابر و. له دې پرته د کابل او جلال آباد تر منځ په لاره کې منزلګاوې جوړې شوې، چې د کابل او هند په لاره باندې د خانه سامان او اړو وسایلو لرونکې وې. په سیندونو باندې د موټر په عرض د موټر د تیرېدو وړ وسپنیز پلونه په عصري بڼه جوړ شول لکه: د ګلبهار غوربند ، ټك او درونټې پلونه. امیر حبیب الله خان د نویو ماڼیو له جوړولو سره ډېره مینه درلوده د هغه د دورې نامتو ودانۍ دادي: په کابل کې دلکشا ماڼۍ، د ستوري ماڼۍ او د عین العمارت ماڼۍ په لغمان کې سراج کلا ، په جلال آباد کې سراج العمارة او په جبل السراج کې سراج الامارة همدا رنګه هغه په ۱۹۱۲م. کال کې د قانون جوړونې یوه کوچنۍ غونډه جوړه او د تذکرې، رهدارۍ او د مړي ژوندي په هکله یې نظامنامې جوړې کړې (د راهدارۍ نظامنامې ۱۱۵ توکونه لرل). امیر په عسکري تشکیلاتو کې هم بدلون راوست: د بېلګې په توګه په کابل کې، چې اردو په څلورو

اردلي، اردل، کوتوالي او دارالسلطنه غونډونو وویشل شوې و، امیر حبیب الله خان هغه تشکیل له منځه یووړ او د پلازمیني پوځ یې په دوو لواګانو وویش. هره لوا کې درې غونډونه او هر غونډ کې څلور زره عسکرو، چې پرته له خاصه دار او یو شمېر نورو څخه ټول ۲۴ زره تنه کېدل. هر غونډ یو د توپچي کنډك (د ۲۴ هاوتزر توپونو، سارایي او قاطري جرمني جبل او کابلي توپونو لرونکي) درلود. هر یو د سپور کنډك د ماشیندار یو ټولی درلود، هر غونډ یو روغتون (چې یو ډاکټر دوو جراحانو او یوه کمپوډر پکې کار کاوه)، آشپز، ډهولي، سقاو، جاروکش، د استحکام یو ټولی او د (ستاره دولت) د مخابراتو دستګاه درلوده.

## اداره او مالي وضع

امیر حبیب الله خان له انګلیسانو سره د ۱۹۰۵ کال د تړون تر لاسلیك کولو او هند ته په ۱۹۰۷ کې له یوه مسافرت وروسته ځان د انګرېزانو له پلوه بېخي ډاډمن وګاڼه، نو ځکه یې په پوره ډاډ سره د هېواد دننه چارې د خپل ورور او د دوو زامنو (نایب السلطنه او معین السلطنه) تر منځ وویشلې. نظامي چارې معین السلطنه ته د حربیه د وزیر په توګه وسپارل شوې او امیر له پاسه ټول څارل. کورنۍ چارې نایب السلطنه ته د صدراعظم په توګه وسپارل شوې او نوموړی د امیر له څارنې هم خلاص و. د هېواد مالي چارې د مالیې د وزیر په توګه مستوفي الممالك مرزا محمدحسین خان ته وسپارل شوې، چې په خپله په سیده توګه له امیر سره په اړیکه کې و. شرعي اته ګونه محکمې لا د پخوا په شان په ټول هېواد کې فعاله وې، خو ورو ورو دغه اداره په فساد اخته او مخ په خوړه شوه. مکافات، مجازات او دسپلین له منځه ولاړل. هر مامور مستوفي او حاکم په خپله سیمه کې خپلواك و او رشوت، سوغات، بیګار او خپلوي پالنه مشروع بڼه غوره کړې وه، دولتي چارې د پلورلو او پیرودلو لپاره کېښودل شوې. د "پول آقا او سر چربي بي بي" نومونه په همدې دوره کې د اداري قاموس ته راننوتل. نایب السلطنه د ولایتونو د والیانو او لویو مامورینو سوغاتونه ترلاسه کول. د هغه د دفتر چارې دده د منشیانو او انډیوالانو په لاس کې شوې، دا ځکه چې نایب السلطنه په کوچنیو چارو کې د ځان بوختول له (آسماني مقام) څخه تنزیل باله. مستوفي الممالك د هېواد مالي چارې او استیفا د بیع او پلورلو په بڼه واړولې. د هېواد مالیات هم د ځمکو، هم ګمرکونه او نور ټول د خاینو اجاره لرونکو لاس ته ولوېدل. دغو اجاره لرونکو به، چې څرنګه غوښتل او څومره به یې، چې کولای شول هغسې یې له مالیه ورکوونکو سره چلند کاوه. په خلکو باندې دروند بار دومره برید ته ورسېد، چې د هېواد په شمال کې په سلګونه د بزګرو کورنۍ له بیوزلۍ سره لاس او ګریوان او روسیې ته ولاړل آن یو شمېر په لویدیځ کې ایران ته واوښتل. په هرات کې د جمشیدي قوم ډېر ښېرازې ځمکې، چې د هغه ځای ډېریو لوی ځمکوال، او څواکمن خان ورته سترګې نیولې، د یوه خاینانه سازش په پایله کې ورڅخه ونیول شوې. د هرات د دربار یو څو فیوډالانو، چې خلکو (چارکلاه) بلل، د هرات د والي محمدسرورخان سره (چې بابای کرام بلل کېده) په لاس یو کولو سره ۱۵۰۰۰ جمشیدیان له دولت سره په ضدیت تورن کړل، له امیر حبیب الله خان څخه یې د هغوی د

نکولو اجازت واخیسته او یوه شپه یې له دریو خواوو څخه په هغوی باندې پوځونه وروستل. خلکو لکه د ښکار په شان خانونه له څلورو خواوو د ښکاریانو په کلابندۍ کې ولیدل په حیرانتیا سره پاڅېدل د کډې کولو ډولونه یې وړ نکول او په هغه لاره، چې د روسیې خوا ته قصداً پرانیستې پرېښودل شوې وه، روټل. دوی وتښتېدل ځمکې یې د چارواکو تر منځ ووېشل شوې، وروسته بیا د شاه امان الله پر دوره کې عزل شوې والي ته دنده وسپارل شوه، چې د هرات له تنظیمیه هیئت سره یو ځای له جمشیدیانو سره خبرې وکړي او بېرته خپلو ځمکو ته راستانه شول.

سراج الاخبار د ۱۳۳۳ (۱۹۱۴) کال د ربیع الاول د څلورمې نېټې خپلې یوولسم ګڼې کې د ایران خوا ته وشړل سوه هزاره کورونو د کډې کولو خبر خپور کړ او لیکلي یې وو: دغه فراریان په خپله خوښه د عسکرو په واسطه له پولو څخه راوګرځول شول او بېرته پر خپله سیمه کې دایزنګي کې مېشت شول.

سراج الاخبار لیکي: کله چې له دوی څخه د دوی د تښتېدلو لامل پوښتنه وشوه، هغه د دولت د مامورینو ظلم، رشوت اخیستل او جبر د لامل په توګه بیان کړ. په همدغه کال باندې زه لیکوال په قطغن- خان آباد کې وم. د قطغن او بدخشان د ګمرک یو اجاره دار، چې جمشیدي خان کمري وال نومېد، اتیا تنه شخصي خدمتګاران لرل او د جمشید خان سرای د بغداد د افسانوي سرایونو بڼه خپله کړې وه، په داسې حال کې، چې په بدخشان کې د غلې-دانې کاختي د هغه ځای خلک اړ کړل، چې خپلې لورګانې په لس منه غنمو وپلوري او په نورستان کې خلکو ړدن خوړل او په پکتیا کې خلکو اوره ځنډول، چې ښه ترخه شي او لږ خوراک وشي. د دوی مالیات او عوارض بېلا بېل وو او د ماسل (محصل) په زور له خلکو څخه ترلاسه کېدل لکه: خس بري (د ځمکې مالیات)، سردرختي، (د میوه لرونکو ونو مالیه)، زکات او د څارویو محصول (چې له کوچیانو او څاروي روزنکو اخیستل کېدل)، سرخانه (له بې ځمکو خلکو اخیستل کېدل)، د خریدارۍ بېلا بېلې حوالې او نور. دولت نغدې مالیه په مالیه ورکوونکو اېښې وه او خزانې ته یې سپارله او جنسي مالیه یې ګودامونو او پړاوونو ته سپارله. دغو ګودامونو او پړاوونو له مالیه ورکوونکو څخه ډېر واټن درلود. خزانې او ګودامونو خپلو ځانونو ته له ټاکلې مالیې څخه یوه اندازه اضافه نغد او جنس اخیستل. له دې لامله چې د دولت او مالیه ورکوونکو تر منځ د ملك او ارباب لاس و، نو یوه اندازه مالیه به د هغوی شخصي مال وګرځېده د مالیاتو باقیات به، چې ورکړه یې د بزګرانو له توان څخه اوچته وه، د تحصیلداران په واسطه راټولیدل. په مرکز او ولایتونو کې د تحصیلدارۍ دفترونه د خلکو په ځان او مال باندې واکمن وو. په قطغن کې درې ډوله تحصیلداران وو، چې هر یوه د ورېو او نهارو خلکو یوه غټه ډله له ځان سره لرله، چې هغوی به یې په خلکو اخته کول: د نیرو څوارلس کلونو د باقیاتو تحصیلدار، د نویو باقیاتو تحصیلدار (له دوو کالو را دېخوا)، او د جاري (د نن ورځې) د باقیاتو تحصیلدار هر یو جلا جلا په خلکو ور ودانګل په دوی کې یو تحصیلدار مرزا محمد مهدي خان و، چې د هغه د آس تګ به لکه د هندوستان د راجاګانو په شان و.

دا یوازې نه، بلکې دولتي بېلا بېل خریداري، شخصي خریداري، بیګار او نورو لګښتونو د خلکو ملا ماته کړې وه. د دولت لویو مامورینو خپله اړتیا وړ غله او بوس په ډېره ټیټه بیه د خپل معاش پر ځای د

لري ځايونو له ماليه ورکوونکو څخه ترلاسه کولې، يا به يې بيه د دولت خزانې ته ورکوله او د دفتر په وړاندې به يې حواله برات ترلاسه کاوه، بيا به يې د وسله والو محصلانو (ماسلانو) په زور حواله شوې توکي له خلکو څخه تر خپلو کورونو پورې وړل، د بېلګې په توګه په خان آباد کې يو افسر يا مامور به د لس خرواره بوس بيه شل روپۍ خزانې ته تحويل کړه او بيا به يې د ماليه ورکوونکو په نوم د بوسو حواله واخيسته او په اندراب کې به يې بوس اخيستل، چې د آس اته پړاوه لرې مزل کېده. د اندراب دفتر به ماليه ورکوونکي اړ کړل، چې هر يو خپله حواله شوې اندازه توکي خان آباد ته ورسوي او ملګه رسېد واخلي له دې لامله، چې دومره ستونزې د زغملو وړ نه وې، نو ځکه به دوی اړ شول، چې د حواله دار له ټاکلې بيې سره سم د بوسو بيه اګر که سل ځله به زياته هم وه، ورکړي، خو دولتي حواله جاتو دا هم نه پرېښوده او ماليه ورکوونکي يې اړ کول، چې په ټاکلي ځای کې جنس تحويل کړي، دا په داسې توګه که د هغه ژوند به هم له منځه ته د جنس په سپارلو مجبور و. د شاهي کورنۍ اړتياوې هم د دوی د معاش پر ځای، د هېواد په ولايتونو حواله کېدې، وريجې په کونړ او لغمان، غوړي په هزاره جاتو، پسونه په قطغن او داسې نور، خو ددغو اخباسو بيه د بازار له بيې د بره ټيټه ټاکل کېده.

په ۱۹۱۱م. کې د کابل کال په بازار کې د يو من غوړيو بيه ۱۵ روپۍ وه، نايب السلطنه د خپل معاش ۷۰۰۰ روپۍ د خزانې پر ځای له بهسودو څخه د حوالې په توګه ترلاسه کړې او د هغې پر ځای يې ډېر ارزانه غوړي راټول کړل. دا مهال د هزاره جاتو حاکم سردار محمد اکبرخان و او په دې برخه کې د نايب السلطنه له کورني دفتر څخه علي احمدخان او مرزا عبدالرحيم خان سردار ته داسې ليك واستاوه.

د بهسودو لوی حاکم عاليجاه، عزت همراه مشفق دی د الله په امان کې کې وي. وروسته تر دعا او د حضرت مولا نايب السلطنه د سلامتۍ او اوږد عمر له هيلو څخه ليکو چې: مخکې تر دې څخه د برات فرمان په ترخ کې تاسې ته حکم شوی و، چې ۷۰۰۰ روپيو په اندازه يوه قطعه برات د عالي جناب د معاش پر ځای د ژيړو غوړيو د پيرودلو لپاره زمونږ د پخلنځي د لګښت په خاطر د بهسودو د دفتر په نوم حواله او برات ترلاسه شوي، چې په راتلونکي ډاك کې تاسې ته استول کېږي، چې تاسې به ددغې اندازې غوړيو په پيرودلو د مبارکو احکامو سره سم لاس په کار شئ او برات رسيد به په سرکاري ډاک کې دغه عالي خادم ته راولېږئ تر څو ډاډه شم انشاءالله تعالی. د غوړيو په رالېږلو کې هڅه وکړئ، چې ژر او ښه غوړي راورسوئ. فقط. او د حضرت مولا له لوري ډاډه اوسئ، چې حضرت د حق سبحانه تعالی په فضل او مرحمت بشپړه روغتيا لري. والسلام.

د ۱۳۲۹ کال د رجب المرجب په ۲۲مه د چهارشنبې په ورځ وليکل شو. د علي احمد او عبدالرحيم لاسليکونه.

دغه غوړي له بهسودو څخه تر کابل پورې په خلکو باندې راورسول شول او د نايب السلطنه د پخلنځي کارخانې ته تحويل شول. دا دی له پخلنځي د کارخانې د رسېد يو نقل، چې د غوړيو يو تن راوړونکي ته ورکول شوي وو: "هو. د کابل په وزن درې چارکه ژيړ غوړي، چې نيمايي يې يو نيم چارکه کېږي د تيرې سنې د باقياتو له درکه دايت ئيلد. کلب د کال له وجهې د حضرت عالي نايب السلطنه د خريدارۍ

څخه د بهسودو اوسېدونکو یوسف بیګ په ذمه باندې د آقا محمد کرایه کش په پېژندنې شره د عزیز احمد دفعه دار تحصیلي، د عـالي جناب د پخلنځي د کارخانې د مورېك د کال د سجقان نیل کال د لګښت لپاره د عالیجاه ناظر محمد اسمعیل خان متعلق ما د الله بنده تحویلدار جلال الدین ته تحویل شول. فقط.[1]

د ۱۳۳۰ کال د رجب المرجب ۲۹ مه دوشنبه د جلال الدین مهر. د مرزا عبدالحسین منشي مهر، د عبدالله مهر، د غلام محمد مهر، درې د نه لوستلو مهرونه.

د دغه لیك له پاسه لیکل شوي: د مالیاتو د دفتر د ۷۸ مخ له مخې د رسید شاته لیکل شوي دي: د جلال الدین د تحویلي د ۳۹ مخ کې ثبت شوي. د عبدالروف لاسلیك.[2]

همدا رنګه نور شهزاده ګانو د توکیو په جبري پېرودنې لاس پورې کاوه. عضدالدوله به په هر کال کې له هزاره جاتو څخه په جبري توګه د پنځه زره روپیو غوړي پېرودل. ټولو شهزاده ګانو ټولو یوه اندازه اسعاري کلداري سهیمه لرله، چې د معاش پر ځای به یې له خزانې څخه ترلاسه او له هند څخه به یې سامانونه پېرودل. د بېلګې په توګه د عضدالدوله ونډه نهه زره کلداري وه. همدا رنګه وسله یې د ارګ له میګزین څخه او نور شیان یې د دولت له تحویلخانې څخه ترلاسه کول یا به یې هم وړیا ترلاسه کول حال دا، چې هر یو د دولت له خزانې ښه زیات معاشونه هم اخیستل، چې معاشونه یې په دې لاندې توګه وو:

| | |
|---|---|
| د نایب السلطنه کلنی معاش | ۳۲۰۰۰۰ روپی |
| د علیا حضرت ملکې معاش | ۲۰۰۰۰۰ روپی |
| د معین السلطنه معاش | ۲۰۰۰۰۰ روپی |
| د ملکې د مور معاش | ۱۰۰۰۰۰ روپی |
| د عین الدوله معاش | ۱۲۰۰۰۰ روپی |
| د عضدالدوله معاش | ۱۱۵۰۰۰ روپی |
| د سردارمحمد کبیرخان معاش | ۸۰۰۰۰ روپی |
| د مدافع سردار (امین الله خان) معاش | ۲۰۰۰۰ روپی |
| د صنایعو د سردار (محمد عمرخان) معاش | ۵۵۰۰۰ روپی |

خو د ملکي لوړ رتبه مامورینو معاش لږ و، د مالیې وزیر مرزا محمد حسین خان مستوفي الممالك په کال کې ۷۰۰۰ روپی، مرزا محمد خان امین نظام د کال ۴۰۰۰ روپی، د ولایتونو مستوفیانو کال کې ۱۵۰۰ روپی او د امیر درباریانو ۳۲۰۰ څخه تر ۷۲۰۰ روپیو پورې معاشونه لرل. د اردو د افسرانو معاش په کال کې داسې و: بلوك مشر ۳۰۰ روپی، ټولی مشر ۲۰۰ روپی، کمیدان ۹۰۰ روپی، کندك مشر

---

۱- دغه لیك او د غوړیو رسید د بهسودو د حاکم سردار محمد اکبرخان د اسنادو یوه برخه وه، چې دده د زوی سردار کریم خان په کتابتون کې وه، چې اوس له ماسره دی.

۲- همدغه اسناد.

Scanned by CamScanner

۱۲۰۰ روپۍ، غونډ مشر ۲۴۰۰ روپۍ او جنرال ۴۸۰۰ روپۍ.

د نایب سالار معاش ۷۲۰۰ روپۍ او د سپه سالار معاش ۲۴۰۰۰ روپۍ و. البته هغه مهال د ارتیا وړ توکیو بیې ټیټې وې. غنم من په یوه روپۍ، غوښه من په څلور روپۍ، وریجې من په درې روپۍ، غوړي من په ۱۵ روپۍ، سان یو ګز کز په یوه روپۍ، وړینه کشمیره ګز په ۱۵ روپۍ او بوټان یوه جوړه په ۲۰ روپۍ د دولت مالیات په یوه کال کې ۸۰ میلیونه روپۍ کېدې او له روسي او انګلیس سره سوداګرۍ مخ په پراختیا وه او د دلال سوداګرو دکار د پرمختګ لپاره لاره مخ په هوارېدو وه.

## خو دربار!!

امیر حبیب الله خان ظاهري پرتم سره ډېر مینه لرله. هغه دربار ته یو نوی نظم او وست اروپایي جامې یې غوره کړې، رسمي یونیفورم یې په څو درجو باندې وویش او جامو ته یې هم جلا نظامنامه جوړه کړه. د رسمي وخت جامه، نیمه رسمي، د اوړي، د ژمي د شپې د ورځې، د جمعې د لمانځه او د ښکار د ورځې جامه یې وټاکله. سرشانه، جال، روب، خولۍ، د کرتۍ او د هغې د مغزي رنګ، د پتلون رنګ او ډول او فراک یخن د شاهي کورنۍ لپاره هم د نظامي برخې لپاره او هم د ملکي برخې لپاره وټاکل شول. آن دا چې دربار لپاره د بلنې ټکټونه په ځانګړي جدول چاپ او ویشل کېدل. دغو ټکټونو له پاسه به د محراب او منبر نښان و، ښۍ خوا ته یې د پاچا سلطنتي او کیڼې خوا ته یې د حضور د شا آغاسي مهر او په متن کې یې لیکلي وو: د ملکي منصبدارانو د سلامخانې د معلي دربار ټکټ، د دریشۍ درجه- نوم، قوم منصب (رتبه) بالادست، زیردست.

د بېلګې په توګه یوه ملکي اجیدن د دریشي په ستون کې به دغه معلومات لیکلي کېدل:

ده سینه توره ماهوت کرتۍ، لستوڼي، طاس او غاړه لیس دوزي، ماهوت مغزي ګلداره، تنۍ برنجې، سرشانه د اجیدنې مقرري. پتلون تورماهوت د ماهوت پټۍ ګلداره، کمربند لیس. د کمربند ګل قلفک دار سره له کرچ بند د سپینو زرو په لوړه برخه کې د محراب او منبر نښان لرونکې. خولۍ افغاني ماهوتي ډوله، د محراب او منبر نښان لرونکي، بوټان تور"(۱)

د ملکي منصبدارانو رسمي کریچ د کابل ماشین خانه کې جوړ شوي وو، چې پوښ یې د سرو زرو په رنګ و، هر ملکي منصبدار دنده لرله، چې یو د سپرلۍ آس، یو د بار وړلو دوه افسري خیمې، او سفر ته چمتو سپاهیان ځان سره ولري. دا چې د مامور معاش دغه لګښتونه پوره کول یا نه کول، د پاملرنې وړ نه و. امیر د خپلې کورنۍ لویانو ته ځانګړي نښې او بیرغونه ټاکلي وو، چې په خپلو خولیو به یې لګول او په خپلو ودانیو به یې راځړول د نایب السلطنه د خولۍ او د بیرغ نښې شق القمر، د معین السلطنه نښان لرونکې خولۍ، د عین الدوله جیغه واله یا چج لرونکې خولۍ او د عضد الدوله پرې لرونکې خولۍ وه.

---

۱- دغه ټکټ اصل زما کتابتون کې شته.

د دربار تشکیلات هم پراخ و، د بېلګې په توګه درې سرمنشیان یې لرل، چې یو یې داخلي منشي، دوهم یې بهرنی منشي او درېیم یې داخله یا د دفتر منشي و. همدا رنګه ایشك اغاسیان، ورته مقرر وو (حضور، ملکي، نظامي او خارجه) او د خارجه دفتر په نوم یو اداره هم ګومارل شوې وه. د دربار یوه بله اداره د حضور دارالعدالت) په نوم وه، چې یو مشر، یو قاضي، دوه مفتیان، څلور تنه محرر او څلور کاتبان یې لرل، چې کار یې نه وو. درباریان به د ځانګړو مصاحبانو د حضور د میز اهل- غلام بچه ګانو، د حضور خاص غلام بچه او په نورو نومونو یادېدل، چې شاته به یې یو شمېر فراش باشیان پیش خدمت باشیان آبدار باشیان او په لسګونه نور باشیان ولاړ وو. شاهي ګارد او د خان سپور، میرسپور، سراوس او رکابدار په نومونو ډلې ددغه دربار ساتونکي وو. افسران یې جرنیل او شاه آغاسیان هم تول د جرنیل رتبه لرونکي وو. همدا رنګه امیرحبیب الله د نویو لقبونو او نومونو ډېر لېوال و، سره له دې چې دغو لقبونو کې ځینو یې له دندو سره برابروالی نه درلود لکه: نایب السلطنه، سردار مدافع سردار صنایع (چې د امیر ورونه وو) معین السلطنه، عین الدوله، عضدالدوله (د امیر زامن)، امین المکاتب، امین المقابله (په دربار کې) امین الاطلاعات امین العسس، امین الوجوهات (د ګمرك رئیس)، امین عین المال، حاکم التحقیق، دارالعدالت او نور، سرداران هم په درجو ویشل شوي وو لکه لومړي درجه سردار، دوهمه درجه سردار او عادي سردار. همدا رنګه امیرحبیب الله خان ډېر لېوال و، چې هر څه په خپله د همده په نوم ونومول شي لکه جبل السراج (د سراج غر)، د سراج غونډۍ (د کابل بلخ غونډۍ)، نهر سراج، سراج بند، سراج پړاو، سراج کلا، د سراج ودانۍ او نور. په هر حال د امیرحبیب الله خان دربار تقریباً تر یوه نظامي دسپلین لاندې، چې په هغه کې ډېر لږ بې پاملرنې چلند هم د سزا وړ ګڼل کېده، آن د دربار لوېې ستېې هم. دربار د کال په زیاترو فصلونو کې د پغمان په صیفیه او د جلال آباد په شتائیه او د تفریح او سیل په نورو ځایونو لکه لغمان، ګلبهار، جبل السراج استالف او نورو کې و. په دغو سفرونو کې به ځینې وخت امیر ښکار کاوه، د غرڅې ښکار او د الوتونکو ښکار په کابل کې، د ښار په ۱۲ میلې کې ښکار ځای، د وزیرآباد چمن او د حشمت خان کلا نیزار او د جلال آباد په ختیځ کې او د کونړ دره نور او داسې نور ځایونه وو. دربار به زیاتره وخت په پخلي او دیګي پخولو لګیا و، چې په دې هکله یو کتاب هم چاپ شو.

هغه فرمانونه، چې امیر د دربار د تشریفاتي چارو په هکله په خپل لیك کښلي، په زړه پورې دي، یو یې دا دی: "د ۱۳۲۹ (۱۹۱۱) کال محرم.

د حضور د میز خلك او غلام بچه ګان او خاص د حضور غلام بچه ګان وروسته تر دې پرته له فراکوت جامو څخه نشي راتلای"

په یوه بل فرمان کې یې داسې لیکلي و: "وروسته له دې څخه هېڅوك او آن ورونه او زامن هم حضور ته په سیده ډول نشي راتلای. دوی باید کور کې کښېني انتظار اوسي او کارت راواستوي، کله چې اجازه ورکړل شوه بیا به راځي."

په یوه بل فرمان کې، چې د ۱۳۳۱ (۱۹۱۲) کال د ربیع الثاني په ۲۰مه یې په جلال آباد کې لیکلي وو

له خوا د حضور د میز زیاتره غړي ځان نشي خبرولی، چې زه په داسې ویلي وو: له دې لامله چې د شپې یا کوم بل ځای کې، نو ځکه مې درې ډوله لاتینونه مقرر کړل تر څو شاهي بڼ کې یم، یا حرمسرای کې، حضور د میز غړي پوه شي، چې زه چېرې یم. سور د باغ شاهي لاجوردي د حرمسرای او شین د بهرلپاره همدا رنګه امیر د ډوډۍ خوړلو د معمولو وختونو د نوم د بدلون لپاره د ۱۳۳۰ (۱۹۱۱) کال د ذی‌الحجې د ۱۴مې نېټې په فرمان کې لیکلي وو، چې: "د سهار ناشته ته به اشرافیه، د غرمې ډوډۍ ته به ضحوه او د مازیګر چای ته به عصریه او د شپې ډوډۍ ته به عشائیه ویل کېږي." (۱)

امیر حبیب الله خان د وخت په تېرېدو سره د خپل بې پایه قدرت او مطلق العناني له کبله په یوه بې مسئولیته، تریخ، ژر مرور کېدونکي او بې باکه واکمن باندې بدل شو. درباریان دده له دغه چلند څخه خپه شول او ټولو ته ویره پیدا شوه. هغه به په ځرګنده په خپلو خبرو کې ویل چې: شاهي او پیغمبري لکه د دوو غمیو په شان دي، چې په یوه ګوته کې وي. د دربار باشي شجاع الدوله خان فراش به کیسه کوله، چې یوه ورځ امیر په دربار کې د پاچاهي د آسماني د اوچت مقام په هکله خبرې کولې او په ډېره جدي بڼه یې پر له پسې دغه بیت وایه:

آنکه جان بخشد اگر بکشد رواست
نایب است دو دست او دست خداست

امیر حبیب الله په دغه ډول عقیدې او ادعا سره یو ډېر اوږد او پرتمین حرمسرای جوړ کړی و، چې له سلو څخه زیاتې ښځې یې د حرم سرای، خدمه او جواري په نومونو پکې مېشت کړې وې. د حرم د اوسېدونکو د جامو، ګاڼو، ماکولاتو او معاشاتو لګښت ډېر زیات و. امیرحبیب الله خان د وخت په تېرېدو سره ورو ورو د حرم دننه ژوند کې ډوب شو او له نورو چارو بېخي بې خبره پاتې شو، د هېواد رسمي ملکه هم له سلطنت ارګ څخه وایستل شوه او په علیا مانۍ کې ځای پر ځای شوه.

## د خلکو پاڅونونه (۱۹۱۲ - ۱۹۱۳)

د پکتیا په ولایت کې به دولت هر کال د بزګرانو رشکه یو جریب په شپږو روپیو په زور سره سرکاري کمند ته پیرودله، حال دا چې د هغه مهال د ورځې بیه ۵۰ روپۍ وه، همدا رنګه دولت به هر کال یوه ټاکلې اندازه غله په ټاکلي نرخ باندې په بزګرانو ویشله او په جبري ډول یې دغه اندازه ورڅخه پیرودله او تر خوست پورې به یې رارسوله. بیا به یې هلته هټیوالو باندې ویشله تر څو دولتي ملکي او نظامي مامورین تل آذوقه ولري. همدا رنګه دولت به همدومره اندازه غله له ځمکوالو څخه پیرودله او د (خندخېل) تر عسکري ګودام پورې به یې راوړله. له دې پرته د پکتیا والي سردار محمد اکبرخان په خلکو باندې دومره زور راوړی و، چې دوی یې د ډېر لګښت له لامله ستومانه کړل، نو له دې لامله، چې

۱- ددغو لاسکښلو فرمانونو اصل د سقاو د زوی د اړ-دوړ پر مهال د کابل بازار ته راووتل او اوس هغه ټول د مرزا سید داود په شخصي کتابتون کې ساتل شوي دي.

Scanned by CamScanner

د پکتیا خلکو وسلې لرلې، د ۱۹۱۲ کال په پای کې د دولت په وړاندې پاڅېد. دغه پاڅون د ۱۹۱۳
کال تر پیل پورې پېنځه میاشتې دوام وکړ. تر ټولو مخکې منګلو (مقبل، طاطاخېلو، جاجي میدان او
ځدراڼو) وسله پورته کړه وروسته بیا احمدزي هم ورسره شول. د میدان خولې تانه یې، د پټان نظامي
مرکز او د خندخېلو پړاو د خلکو تر برید لاندې راغلل، خو د مرګ ژوبلې او د وسلې د له لاسه ورکولو
په منلو سره له ماتې سره مخامخ شول، پاڅون کوونکو تانه نړولې وه او تر تیرا غاښي پورې یې د دولت
په مخ لاره تړلې وه، جانداد خان احمدزی لوی فیوډال، چې په کابل کې مېشت و، هم دولت سره لاس یو
کړ، چې پاڅون وځپي او پکتیا ته ولاړ، خو هلته یې په منګلو او احمدزیو کې د اړ-دوړ لمن نوره هم
پراخه کړه، دا ځکه چې د هغه وراره محمدولي خان لا پخوا هندوستان ته تګ راتګ او له انګرېزانو سره
نامنه ولاړه لرله، دوی غوښتل د بزګرانو له دغه پاڅون څخه خپله ګټه استفاده وکړي. ملك جانداد خان
برابر ځای ملك اصیل خان هم د پاڅون کوونکو خوا ونیوله. امیر حبیب الله خان دا مهال په جلال آباد
کې و، پاڅون کوونکو ته یې د ملا محمد خان افغان نویس په لاس یو فرمان واستاوه او پاچا ته اطاعت
یې د اولی الامر اطاعت وباله او دغه فرمول یې خلکو ته واوروه او خلکو سره یې د پکتیا د والي او د
هغه د مامورینو ذ لرې کولو ژمنه وکړه او ویې ویل، چې دوی ته به سزا ورکول کېږي، خو خلکو د
پېلوعرایضو د نه اورېدو او پخوانیو وړاندیزونو د نه منلو تجربه لرله، نو ځکه یې د پاچا په ژمنو باور
ونه کړ او ملا محمد خان یې بېرته راستون کړ. په دې توګه اخ و ډب زیات شو امیر د پکتیا او غزني
خانانو، حاکمانو او عسکرو ته د عمومي یرغل امر وکړ تر څو پاڅون کوونکي وځپي. په یکتیا کې
شهور خان (ببرك خان ځدراڼ) د دولت په پلوي ودرېد، همدا رنګه امیر د شینوارو، لغمان، کونړ،
فوربانو، حصارك، سره رود، بهسودو، چپرهار عبدالرحیم زیو، مومندو له خانانو او د خېلو څخه یو
۱۲۰۰ کسیز پوځ جوړ او د امیرعبدالرحمن خان په شان یې نامنظم پوځ برابر کړ او د دولت له لګښت
څخه یې وسله، بار وړونکي اوښان، ملایان، غشي، خیمه، د کفن لپاره سان، سقو، غله-دانه ډول
ډول وړونکي او نور ورکړل او مخ په پکتیا یې ولېږل او د دغه لښکر هر سرتیري ته یې د میاشتې لس روپۍ
هم مقررې کړې. د هباشیانو ته یې ۱۲ او صدباشیانو ته ۲۰ روپۍ ورکولې او د جګړې وژل شویو او ټپي
شویو د کورنیو لپاره یې د مستمرې ژمنه هم وکړه. دې پسې امیر کابل ته راغی او یو غونډ منظم پوځ
یې د جنرال محمدنادر خان په مشرۍ د پاڅون کوونکو په وړاندې واستاوه. جنرال له ۹ پن غرني توپچي
او غرابین توپکو سره د تیرا غاښي ونیو، چې ۴۰۰ پاڅون کوونکي پکې ووژل شول او د هغوی مرکز
تدان کلا یې په ګولیو او شرنپل ونړوله او ویې وسوځوله. پاڅون کوونکو ګردیز پرېښود او د منګلو
سیمې ته ولاړل. جنرال د نورې جګړې پر ځای خبرې-اترې پیل کړې، د غلې او بوسو پیرودل یې د بزګرانو
له اوړو څخه سپك کړل او د پکتیا والي سردار اکبرخان یې له دندې څخه لرې کړ، په دې توګه
خلکو وسله وغورځوله او د دوی استازي لکه محمدعزیزخان، تیمورشاه، عبدالغني او نور جنرال ته
راغلل او سوله یې وکړه، البته جانداد خان هند ته وتښتید او اړ- دوړ کوونکو د نړول شوې تانې پټان او
خندخېلو بېرته رغاونه په غاړه واخیسته. د اړ دوړ کوونکو ۸۲۸ تنه استازي جنرال ته راغلل او کابل ته

Scanned by CamScanner

ورسره راورسېدل، امیر حبیب الله خان له هغوی سره ښه چلند وکړ. د هغوی زامنو ته یې په کابل کې
ملك زاده ګانو عسكري ښوونځي جوړ كړ او په خپله دوی ته یې د سفر لګښت ورکړ، خو د پکتیا والي
ته كومه سزا ورنه كړل شوه او هغه بیا وروسته په یو شمېر نورو مهمو دندو كې وګومارل شو او جنرال
محمدنادر خان د نایب سالاری، رتبې ته لوړ شو. دا لومړنی خل و، چې یو لوی اړ-دوړ د دولت او
مخالفینو تر منځ په وروستي پړاو كې په خبرو-اترو سره حل شو. د انګرېزانو مطبوعات په غوسه وو او
د امیر دغه نرمښت او زغم یې وراټه او هغه یې له راتلونكو خطرونو څخه په ویره كې واچاوه. دا ځكه
چې انګرېزان د افغانستان له ماتې نه منونكي ولس څخه نه هېرېدونكي ګوزارونه خوړلي وو او نه
رغېدونكي ټپونه یې په زړه وو، یو ځل بیا یې غوښتنه چې لكه د امیرعبدالرحمن خان د دورې په شان
دغه ملت د خپل حكومت په لاس باندې په یوه تړلې او ځپل شوې ټولنه بدل او ولس په یوه نا معلوم او
بې وسلې ولس واړوي، د بېلګې په توګه د (ټایمز آف انډیا) ورځپاڼې په هماغه مهال (د ۱۹۱۳ اګست
كې په دې هكله ولیكل:

"دغه نرمښت د ناوړه پوهېدنې لامل كېږي، غوره لاره دا ده، چې د افغانستان چارواكي د پخوا په شان
اوسي او په دې ډول حالاتو كې باید خلكو ته وحشیانه سزاګانې (لكه د امیر عبدالرحمن خان په شان
وركړي او فساد په ډېره بې رحمۍ سره غلی كړي او د معافي وړ مجرم پېژني او غورځونه هم باید پرېږدي
او دوی ته باید ډېر سختې سزاګانې وركړل شي او هغه څوك، چې د اړ-دوړ لامل ګرځېدلي باید امكان
تر بریده دوی وځپل شي.(!!)"

خو انګرېزانو له دغې سوله ییزې آرامۍ سره موافقه نه لرله، نو ځكه یې ډېر ژر د یوې بلې كورنۍ شخړې
اور بل كړ. د لندن ټایمز د خوست، ننګرهار، سلیمان خېلو او د كندهار د خروټیو د اړ-دوړ د پیل كېدو
خبرونه خپاره كړل او ویل یې، چې افغانستان مخ په ډېر بد حالت او مخ په خرابۍ روان دی په هغه لاره
چې ګاونډي ایران یې وربانديې روان دی، دې پسې وروسته جاندادخان احمدزي، چې پخوا هند ته
تښتیدلی وو په همدغه ۱۹۱۳ كال له یوه هندي مامور سره د نویو هدایاتو په لرلو سره پكتیا ته راغی
او په كور ورانوونكو شخړو اچولو یې پیل وكړ، چې دغه ولایت په وینو كې ولمبوي، خو دا مهال خلك
د دولت له ښه چلند څخه خوښ و. جاندادخان یې بندي او دولت ته یې تسلیم كړ، هغه كابل ته وغوښتل
شو او دلته اعدام شو. د همدغه اړ-دوړ په پایله كې امیرحبیب الله خان په ۱۹۱۲ كې د اردو هر
سرتیري او افسر ته د میاشتې ۳ روپۍ معاش ور اضافه كړ، یعنې د سرتیرو د معاش یې له لسو څخه
دولس روپیو ته لوړ كړ.

## د کندهار د خلکو پاڅون

د کندهار هر څمکوال، څاروي لرونکي او سوداګر د دولت د رشوت خوړونکو مامورینو چارواکو لپاره لګه غوا وه، خو خلکو له پوره زغم څخه کار اخیست، تر څو چې د دوی زغم پای ته ورسېد او خبره عرض کولو ته ورسېده، د کندهار والي سردار محمد خان و، چې د پاچاهي ژوند یې درلود، هغه یو ځل د کابل دربار ته راغلی او څه موده وروسته بېرته ستون شو او د ورنسپارل شوې دندې سره سم یې داسې کارونه وکړل، چې پخوا چا نه وو لیدلي، له دې لامله، چې دده دغه نوی کار د خلکو د پت او عزت مخالف و، نو څکه د کندهار د ښار او شا و خوا خلکو لکه ده خواجه، قلیج آباد، ګذره او نورو کلیو خلکو پاڅون وکړ او وسلې یې راپورته کړې، پاڅون کوونکو تر هر څه مخکې د دولت د زیرمو او خزانې د ساتلو لپاره ساتونکي وګومارل، چې څوک لوټ ونه کړي او بیا د احتجاج په بڼه د خرقې بست ته ننوتل. پاڅون کوونکو د محمد عثمان خان ورولېږل شوي هیئت ته، چې په هغو کې څو تنه سپاره افسران. قاضي او مفتي وو، ښه وټکول، په خپله قاضي او د هغوی زوی یې، چې د دین په نوم یې له خلکو څرمن ایستې وه او د خلکو مالونه یې خوړل، ووژل. سردار محمد عثمان خان یو منظم پوځ چمتو کړ او د دولتي ارګ برجونه او بارۍ یې د یوې نظامي کلا په بڼه کلك او په دیوالونو او بامونو باندې یې سرتیري وګومارل. خلك د ارګ خوا ته ورغلل، د سردار په امر پوځیانو وارونه پیل کړل، چې په سلګونه خلك یې ووژل، هغه ماشومان او ښځې هم ولګېدې، چې هتیو سره یا په بامونو ښکاره کېدې. پاڅون کوونکو چې ضعیفه وسله درلوده د ارګ په پرتله یې وسله لږ وه په شا شول. ملایانو او سپین ږیرو منځګړیتوب وکړ او ورو ورو د پاڅون څپې په کرار شوې. سردار محمدعثمان خان د دولت په نوم یوه عریضه ولیکله، چې په هغې کې د خلکو له لوري وکالت شوی و، چې: پاڅون کوونکي خپله سزا ولیده، د پاڅون کوونکو پر ځای مونږ پاچاهي عفو غواړو. دغه عریضه کې ۲۰ تنو سوداګرو، ۳۴۰ تنو کلانترانو، ۱۴ تنو مهاجرو، ۴۰ تنو بارکزي، محمدزي، پوپلزي،نورزي، الکوزي او اسحق زي مشرانو، ۲۷۷ تنو ملکانو او نورو لاسلیکونه وکړل. په هر حال. پاڅون غلی شو او د هند په جرایدو کې د پاڅون اصلي لامل ونښودل شو.

محمودطرزي، چې تل خپلو خبرو ته یوه بهانه لټوله، دا فرصت ترلاسه کړ، چې د سراج الاخبار د ۱۳۱۳ کال د ذی الحجې په څلورمه ګڼه کې ولیکي چې: سردار محمدعثمان خان د کندهار نایب الحکومه، چې کله کابل ته راغلی و او ویلي یې و، چې: په کندهار کې د ښه غږ لرونکي سندرغاړي ډېر دي، نو له دې لامله چې په کابل کې د شهزاده واده په مخه کې و، د شهزاده مور سردار محمدعثمان خان ته وویل، چې که چېرې په کندهار کې سندرغاړي وي نو یوڅو تنه یې کابل ته راواستوئ. له دې لامله چې سردار په کابل کې په سوغاتونو باندې ډېر لګښت کړی و او یو تیز رفتار موټر یې هم پیرودلی و، کندهار ته د بېرته راتګ پر مهال یې د سندرغاړو ښځو رالېږل کابل ته د خلکو د ویرې لامل وګرځاوه او له خلکو څخه رشوت اخیستل یې هم پیل کړل او د کندهار کوتوال ته یې امر وکړ، چې هر شتمن او بډای وګواښي، چې خپله میرمن کابل ته واستوي. که نه پیسې به یې ورڅخه اخیستې.

Scanned by CamScanner

محمود طرزي په همدغه اخبار کې د "امن و آسایش" تر سرلیك لاندې یوه اوږده مقاله خپره کړه، چې د امیر حبیب الله خان او امیر عبدالرحمن د اداري بڼه انځوروي. دلته یې یوه برخه راواخلو: مخکې تر دې (د امیر حبیب الله خان له سلطنت څخه مخکې یعنې دده د پلار پر مهال) هیچا په خپل ځان، مال، ماموریت او هیڅ شي باندې د امنیت او امن ډاډ نه درلود. هیڅ داسې ورځ نه وه، چې په هغې کې قتلونه، اعدامونه، بېلا بېل عذابونه او لوټ نه وي شوي، د شتمنیو نیول کېدل، د مالونو مصادره کېدل له کور کهول سره فرارول تل پېښېدونکې واقعې دي. حال دا، چې د افغانستان بېلا بېلو قومونو له هېواد څخه د وتلو پرله پسې کاروانونه روان کړي وو. اعلیحضرت سراج الملته والدین (امیر حبیب الله خان) ټول تښتیدلي فراریان بېرته له بهرنیو هېوادونو څخه خپل هېواد ته راوبلل او ډېر ضبط او مصادره شوي مالونه یې بېرته د هغو خاوندانو ته وسپارل. د محمدزیو هیڅ نارینه یا ښځینه بې تنخواه پاتې نه شو. هیڅ څوك یې بل ته اړ پرې نه ښودل. د کورنۍ هر غړي ته یې جلا جلا تنخواه ورکړه، چې پلار زوی ته، ورور ورور ته او لور مور ته احتیاجه نه ده، هر څوك جلاجلا تنخواه لري عمومي اخلاق دومره زهرجن شوي دي او ناوړه اخلاقو په خلکو کې دومره بده اغېزه کړې، چې د قرآن، رسول او پاچا حکمونه او د وطن حق، ملي شرافت او ملي پت، د بنده ګانو حقوق، وجدان او ایمان د اماره نفس او خاین خواهش ته هیر وو. پاچا ولایتونو ته حاکم غوره او مقرروي که اصیل وایې اصیل؛ که سپین ږیری وایې سپین ږیری، که لمونځ کوونکي وایې لمونځ کوونکی که دیندار وایې دیندار عالم او عاقل څوك دی، چې د هغه دیانت او حقانیت ته تسلیموي کله چې مقرر شي، دومره مفلس او تش لاسي وي، چې ځانته د سورلۍ آس او نوکه په پور نیسي او په ډېرو خواریو ځان د ولایت هغې دایرې ته ورغورځوي، چې هلته مقرر شوي دي. کله چې هلته ورسېږي، نو که ښامار وایې ښامار، که نهنګ وایې نهنګ، که بلا وایې بلا، هر څه چې وایې هغه ورڅخه جوړ شي کمند کمند، آسونه رمه، رمه څاروي، کتار کتار اوښان، نغد او خزانې، جنس، صندقونه او هر څه پیدا کړي. زړه چاودونکې خو دا ده، چې که ورڅخه پوښتنه وکړې، نو درته وایې چې دا سوغاتونه دي. چې دغه ټکی د لغاتو په هیڅ کتاب کې نشته، پرته په خپله د نایب الحکومه جناب صاحب قاموس العلوم څخه. د ناوړه اخلاقو دغه ډېره بده بلا که یوازې ځینو سیمو کې وای، هر څه چې وای وای به خو د خپګان خبره دا ده، چې یو خوار مرزا چې د کومې سیمې دفتر کې مقرر شي، په لږ وخت کې یې ګوري، چې د کورونو، ځمکې او څه او څه خاوند کېږي..."

"سبحان الله مونږ د سر په سترګو ګورو، چې د معظم پاچا قدسیت صفاته ذات د اداري د ښه کولو او د بیت المال د نه تلف کېدو په هکله دومره هلې ځلې کوي، چې د خپلو شاهانه ګڼ شمېر لګښتونه څخه یې ونیوله، آن دا چې د شاهانه حضور طعام هم ډېر ساده شوی تصرف په قاعده برابر شوی دی (هغه مهال د افغانستان سیده او ناسیده ټول عواید د ۸۰ میلیونو روپیو شا وخوا کې وو، خو یوازې د امیر د پخلنځي لګښت دوه میلیونه او څلور لکه روپۍ یعنې د ټول هېواد د عایداتو په سلو کې درې برخې د. حال دا چې د جرم د سوغاتونو جامو او معاشاتو لګښت او د شاهي خاندان لګښتونه په دغه اندازه کې نه و شمارل شوي، دا ځکه چې هغه مهال د هېواد په کچه بودیجه نه وه، او د دولت خزانه د پاچا شخصي

مال ګڼل کېده، حال دا چې دنایب الحکومه صاحبانو (والیانو) د دسترخانونو لګښت له ۲۰ـ ۷۰ غوري پورې وو) هغه بخشش او احسان، چې د اعلیحضرت ذات یې کوي. د دوی د شخصي عین المال څخه دغه بخشش هم له هر ډول اسراف څخه لرې دی (حال دا چې امیر عبدالرحمن خان او د هغه زامن چې کله له آمو سیند څخه راپورې وتل پرته له اس او متروکې څخه نور یې هېڅ نه لرل) حال دا، چې بو شمېر نایب الحکومه ګان په لکهاوو روپۍ زید او عمر او دارالسلطنه ته بخششونه ورکوي (هغه مهال په رسمي توګه داسې دود و، چې والیانو به د خپلو ترلاسه کړیو شتمنیو یوه برخه د سوغات په بڼه دربار ته استوله او لویو لویو ستو ته به یې هم تارتق او سوغاتونه ورکول) آیا دا یې له کومه کړل؟ څه پوهېږو، چې له کومه؟ که وایو، چې قارون دی، خو نه دي، که ووایو چې مخکې تر نایب الحکومګۍ ځخه هامون وو، خو نه وو، نو دا یې ټول د بیت المال غصب څخه او د اعلیحضرت عدیم المثال[۱] پاچا د رعیت له وینو څخه (دلته د عدیم المثال تر څنګ د تعجب او تاثر دغه علامه ډېره پر ځای او سمه په سراج الاخبار کې راغلې) سره له دې، چې پوهېږو، چې په دغو خبرو ډېر خلک د ځان دښمنان کوو، خو دغه شمېر دښمن ګڼل نظر هغې دوستۍ ته، چې له خپل پاچا، هېواد او ملت سره یې لرو، د یوې ذرې په اندازه اهمیت نه ورکوو. حقیقت هېڅکله پټ نه پاتې کېږي؛ د خپل مطلق خالق له دربار څخه غواړو، چې د ملت او دولت خائینان چې د خپل هوا او نفس په خاطر رعیت تر پښو لاندې کوي او د هېواد امن او هوساینه ګډوډوي او د اضلال او اختلال لامل ګرځي، وشرموي او د پاچا نمک دې د دوی سترګې ړندې کړي."[۱]

خو نه د طرزي لیکنو او نه هم هغو وینو، چې په کندهار کې توې شوې، هېڅ یوې هم د سردار محمدعثمان خان د سزا موجبات چمتو نه کړل، بلکې د هغه راتلونکې نوره هم ښه وه. دا څکه چې امیر نه غوښتل، چې خپل مامور ته سره له دې که ملامت هم وي، د خلکو تر مخې سزا ورکړي.

## د دیموکراسۍ غور ځنګ

پوهېږو، چې د ډیموکراسي پیلامه په لویدیځ کې د دیارلسمې پېړۍ له لومړیو څخه د پانګوالي اقتصاد له پیدا کېدو راهیسې ده. "فرمان کبیر"، "پارلمان" د اکسفورد قوانینو او زرین فرمان "دیت" او داسې نور ټول د معاصرې او سمهالې غربي دیموکراسي پیل و. په پای کې په ۱۷مه پېړۍ کې د پارلمان د حقونو اعلانولو د انګلستان د مشروطیت بنسټ جوړ کړ او په اتلسمه پېړۍ کې د فرانسې انقلاب ددې لامل وګرځېد، چې د بشر حقونه اعلان شي. ختیځو لویو هېوادو کې هم د پانګوالي اقتصاد رامنځته او دوی په نولسمه پېړۍ کې په یو شمېر سمونونو لاس پورې کړ، همدا دوی ته د دیموکراسي پیل و. په ترکیه کې د سمون پروګرام د رسید پاشا او مدحت پاشا په لارښوونه، په ایران کې اصلاحي

۱. سراج الاخبار، د محمودطرزي په قلم، دوهم مخ، د ۱۳۱۳ (۱۹۱۲) کال د ذی الحجې د میاشتې ګڼه دریم کال خلورمه ښته

Scanned by CamScanner

پروګرام د مرزا تقي خان په لارښوونه پیل او په پای کې په شلمه پېړۍ کې (په ۱۹۰۸م کال) د سلطان حمید له خوا د مشروطیت فرمانونه خپاره شول او مظفرالدین قاجار هم په ۱۹۰۷ کې دغه فرمان خپور کړ، په مصر کې بیا لږ وروسته (د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې) د محمدعلي خان ریفورمونه عملي شول او د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي (۱۹۲۳) کې د ملك فواد له خوا د مشروطیت اعلان وشو. له ۱۹۲۴ څخه تر ۱۹۲۸ پورې عراق او سوریه کې یو په بل پسې مشروطه رژیمونه ومنل شول.

خو په افغانستان کې د ۱۸۷۲ - ۱۸۷۸ کلونو تر منځ د سیدجمال الدین او امیرشیرعلي خان اصلاحي پروګرام له پورته خوا څخه راپیل شو، خو د انګریزانو نظامي تیري دغه اصلاحات ودرول او د شلمې پېړۍ د پیل پورې په ټپه ولاړ پاتې شول.

د ۱۹۰۱ - ۱۹۱۸ کلونو تر منځ یو ځل بیا په افغانستان کې یو څه اصلاحات وشول او یو شمېر مدرسې، جوماتونه او شخصي کتابتونونه جوړ شول، ورسره یو ځای سوداګرې پر مخ ولاړه او ورو ورو په ملي کچه تجاري بورژوا راڅرګنده شوه. په تېره بیا د امیرعبدالرحمن خان له دورې څخه وروسته سوداګرې ښه پر مخ ولاړه. په کابل کې بهرني اخبارونه له یو لاس څخه بل ته او د روڼ اندو په محفلونو کې به لوستل کېدل. دغه کوچنی قشر، چې په پیل کې د ملي سوداګریزو بورژواګانو او لبرال ځمکوالو استازیتوب کاوه وروسته وروسته یې بیا د پاچا د بې پایه ځواك او قدرت د محدودولو په خاطر، د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو په خاطر او د قانون د رامنځته کولو په خاطر په فعالیت پیل وکړ، خو لا د خلکو او ولسونو سره یې اړیکې نه لرلې. دغه روڼ اندي په پلازمینه کې دریو مرکزونو پورې تړلي وو: یو یې د دربار لبرالان وو، چې په موجوده رژیم کې یې دننه ریفورم او اصلاحات غوښتل. د دوی په سر کې، د دربار یو څو تنه لکه محمدولي خان بدخشانی د امیر ځانګړو غلام بچه ګانو مشر، د بار چالانې مامور میرزمان الدین خان او د هغه کشر ورور یاربېګ خان دروازي، همدا رنګه یو څه مهم غلام بچه ګانو لکه شجاع الدوله خان، سیدجوهر خان غوربندي، پادشاه میرخان لوګری، نظام الدین خان ارغندیوال او لعل محمدخان کابلي (د پخواني خزانه دار جان محمدخان زوی) وو. لږ وروسته بیا د دوی له ډلې څخه څو تنه احساساتي ځوانان لکه جوهر شاه خان لعل محمد خان، پادشاه میرخان، نظام الدین خان او د میر زمان الدین خان له دربار څخه بهر دیموکراتو سیاسي کړیو لاس سره یو کړ. په عمومي توګه ټولو په دربار کې دننه بهرني اخبارونه یو شمېر کتابونه مطالعه کول او کورنیو او بهرنیو سیاسي او ټولنیزو مسایلو سره یې دلچسپي لرله.

## د جمعیت سري ملي ګوند

د دیموکراتو روڼ اندو ډېر مهم مرکز، چې له ریفورم څخه یې په دیموکراتیك رژیم باندې د مطلق العنان رژیم د بدلیدو هیله لرله، د حبیبیې لیسه وه. په دغو دیموکراتانو کې یو شمېر رادیکالان هم وو، چې د خپل مرام د ترلاسه کولو په خاطر یې ترور او کودتا هم روا وبلله. دوی په عمومي توګه بهرني جراید لوستل او د بهرنیو ښوونکو (هغه چې افغانستان استخدام کړي وو) سره یې اړیکې وې.

Scanned by CamScanner

درېیمه ډله هغه دیموکراتان وو، چې یو یو د دربار له کړۍ څخه بهر او د حبیبیې له لیسې څخه هم بهر ود او ځینې وختونه به دوی یو بل سره د ملګرتوب اړیکې هم ساتلې.

د حبیبیې لیسه، چې په ۱۹۰۳ کې جوړه شوې وه تر ۱۹۰۹م. کال پورې د سیاسي فعالیتونو مرکز وګرځېده او په پای کې د لیسې ښوونکي او یو شمېر کار کوونکي له ښوونځي څخه بهر یو شمېر نورو روڼ اندو سره او دوی ټولو بیا د دربار له روڼ اندو سره اړیکې ومونډې او ټولو په ګډه یو سیاسي سري (پټ) ګوند د (ملي سري جمعیت) په نوم جوړ کړ. د دغه جمعیت (ډلې) مرام د مطلق العنان حکومت اړول په یوه مشروطه حکومت باندې و، د افغانستان د خپلواکۍ ترلاسه کول او د نوي کلتور غوړول یې نورې موخې وې. دغه ګوند د هغه د موسس تر مشرۍ لاندې په لس کسیزو کړیو کې فعالیتونه پراخه کړل، چې ځینې وخت د ګوند کړیو یو د بل غړي نه پېژندل، په لومړیو کې به د ګوند غونډې د شپې له خوا د هر په پټه د هرې ګوندي کړۍ د مشر له خوا جوړېدې، چې د شخصي میلمستیا او لیدو کتو بڼه یې لرله او په دې ترڅ کې به ځینې فیصلې کېدې. وروسته بیا د هره موده وروسته وروسته به د ګوند عمومي لویې غونډې هم جوړېدې، چې نوې پرېکړې به پکې کېدې. د ګوند د یوې مهمې کړۍ (حلقې) یو رئیس یا مشر تاج محمد خان بلوڅ پغماني او د هغه د حلقې یو نامتو غړی جوهر شاه خان غوربندي و، چې منشي یې میر سید قاسم خان لغماني (د حبیبیې د ښوونځي ښوونکی) و. د ګوند په دغو کړیو (حلقو) کې یوه یې د هندوستاني مسلمانانو حلقه وه، چې مشر یې ډاکتر عبدالغني خان پنجابي او غړي یې مولوي نجف علي خان محمد چراغ (د ډاکتر ورونه) او مولوي محمد حسین خان پنجابي (د حبیبیې د لیسې ښوونکی او امرالدین خان وو. د ګوند هیئت د دغو کړیو مشران او یو څو د حلقو مهم غړي وو. د ګوند د مدیره هیئت په یوه غونډه کې پرېکړه وشوه، چې هڅه به وشي، چې امیر حبیب الله خان د نوي کلتور په خپرولو کې وهڅول شي او (ناپېژندل شوي) د ګوند غړي د نوي تمدن او فرهنګ په خپرولو کې خان سره مرستیال وګڼي. ورپسې د ګوند په یوه بله غونډه کې پرېکړه وشوه، چې د ګوند غړي د تومانچې په لرلو مکلف دي، دغه لیکل شوې پرېکړه تاج محمد خان پغماني ته وسپارل شوه. د تاج محمدخان ورور محمد شریف خان د خپل ورور یو ډېر کلك سیاسي او فکري مخالف او د کابل له ټولو روڼ اندو سره وران و، چې د دولت کلك پلوي مامورینو وروسته بیا دا خبره هم کېده، چې یوه پټ لاس د ګوند دغه پرېکړه د محمد شریف په لاس د تاج محمدخان له اسنادو څخه چې دواړه یوه کور کې اوسېدل په خپله پاچا ته ورسول شوه. له بلې خوا د ګوند په یوه بله غونډه کې سردار حبیب الله خان طرزي د یوې وینا په ترڅ کې د رژیم د بدلون په هکله خبرې وکړې. امیر حبیب الله ته رئیس حبیب الله دغه ټولې خبرې د (وسله وال کېدو) له پرېکړې سره یو ځای ورسېدل. دې پسې بیا د ۱۹۰۹ کال په ژمي کې کله چې امیر حبیب الله خان په جلال آباد کې و او په باغونو کې یې تفریح کوله، د ګوند دووتنو غړو (استاد محمد عظیم خان د حربي فابریکې فني کارکوونکی او ملا منهاج الدین خان جلال آبادي د شهزاده محمد کبیرخان ښوونکی) د ګوند د هغو ټولو غړو د نومونو یو لست، چې د دې پېژندل ترتیب او داکچي ملا طور دغه لست له یوه راپور سره یو ځای په جلال آباد کې امیر ته ورکړ او ویې ویل: د ملي

سري ګوند اصلي موخه د امير وژل او د مشروطه دولت جوړول دي، خو په کابل کې داسې ويل کېدل. چې ددغو خبرونو د رسولو اصلي لاس د ګوند دننه هندوستانیان لکه ډاکتر عبدالغني او د هند ملګري وو، چې پـه يـوه غشـي يې دوه نښـې وويشـتې. لـه يـوې خوا يې د افغانستان د مشروطه غوښتنې او خپلواکۍ اخيستو لومړنی غورځنګ له منځه يوور د افغانستان د پرمختګ لاره يې وتړله او له بلې خوا يې د نوي تمدن او معارف له خپرولو څخه بېزاره او زړه توري کړل. د همدغه لست له مخې د افغانستان پـه تاريخ کې د لومړنيو مشروطه غوښتونکو د ګونـد د مهمو او لويـو غړو نومونـه د تاريخ مخې ته کېښودل کېږي. امير حبيب الله خان په کابل او جلال آباد کې (هغه مهال د پاچا وکيل نايب السلطنه په کابل کې و) په دغه لست باندې خپل حکم وليك او د ۱۲۸۵ کال په کب مياشت کې يې د اجرا لپاره په دې توګه صادر کړ: ما د ملا منهاج الدين نامنويس طومار (پرپړه) تولـه ونه لوسته، په اور کې مې واچوله که نه ډېر خلك به برباد شوي وو.

دلته د ملي سري ګوند د هغو غړو نومونه دي، چې محکوم او ووژل شول:

۱- د پخواني خزانه دار جان محمدخان زوی د امير خاص غلام بچه لعل محمدخان کابلی، چې په جلال آباد کې د درباريانو په لاس اعدام شو.

۲- د محمد سرور خان پرواني زوی محمدعثمان خان، چې په جلال آباد کې په توپ والوځول شو.

۳- د امير خاص غلام بچه جوهر شاه خان غوربندي، په جلال آباد کې د حضور د عمله په لاس اعدام شو.

۴- د تاج محمدخان پوپلزي زوی محمدايوب خان (چې هند تـه تښتيدلی و او بيا وروسته تر عفو کېدو څخه بېرته راستون شوی و) په جلال آباد کې د تـوپ خولې تـه وتـړل شـو. (محمدعثمان خان پرواني او محمد ايوب خان پوپلزي هند ته د تېښتې پر مهال او بيـا هلتـه پـه بهرنيو هېوادونو کې د افغانستان د مشروطه غوښتنې د جريان د خپرولو په موخه لـه تـګ څخه مخکې پـه پولـه کې ونيـول شول او امير ته وروستل شول. امير ورته ډېر په غوسه شو. محمدعثمان خان ځواب ورکړ، (زمونږ د مرګ کړاو به له څو شېبو څخه زيات نه وي، خو له تا سره محاسبه ابدي ده. مونږ نه غوښتل، چې تا ووژنو، خو غوښتل مو چې افغانستان اصلاح کړو) هغه شمېر چې په کابل کې د امير په امر په توپ کې والوځول شول دا وو:

۵- ملا محمد سرورخان د حبيبيې د ليسې ښوونکی، چې نوموړی د محمدجان خان الکوزي زوی و. ده توپ ته نږدې ځان ته قلم او کاغذ ور وغوښت او يو وصيت ليك يې په ډېر آرامي او پـه ښکلې ليك سره وليکه، چې پورته وړباندې لاندينی بيت ليکل شوی و:

ترك مال و ترك جان و ترك سر
در ره مشروطه اول منزل است

ددغه وصيت ليك اصلي پاڼې له عبدالهادي خان داوي سره وې، خو ماته يې د هغو يو نقل (کاپي) رالېږه کړه.

۶- سعدالله خان الکوزايي په کابل کې په توپ والوځول شو.

۷- عبدالقيوم خان الکوزايي د ګمرك مامور په کابل کې په توپ کې والوځول شو.

Scanned by CamScanner

## د ګوند هغه غړي چې محکوم او بندشان شول

۸. غلام محمدخان میمنه ګي د امیر د حضور انځورګر (وروسته بیا په پروفیسر یادید).
۹. د علي محمدخان بلوڅ زوی تاج محمد پغماني.
۱۰. د کوتوالي د دفتر منشي مرزا محمد حسن راقم کابلي.
۱۱. مرزا عبدالرزاق خان کابلي.
۱۲. د دربار بار چلاني مامور میرزمان الدین خان بدخشاني.
۱۳. د ناظر محمدصفرخان امین الاطلاحات زوی محمدانورخان بسمل.
۱۴. د ستاره دولت (مخابراتو) مامور احمدعلي خان قزلباش چنداولي.
۱۵. د بلخ د مزاري کنډک کرنیل عبدالوهاب خان.
۱۶. د امیر د حضور غلام بچه پادشاه میرخان لوګري.
۱۷. د حضور غلام بچه نظام الدین خان ارغندیوال.
۱۸. قاضي عبدالحق خان سلیمان خېل (ارغندیوال)
۱۹. میرسید قاسم خان لغماني (چې په میرصاحب یادید)
۲۰. د مستانشاه کابلي زوی مرزا غیاث الدین خان.
۲۱. د شاعر حافظ مجذوب زوی حافظ عبدالقیوم خان.
۲۲. محمد ابراهیم کابل ساعت جوړوونکی.
۲۳. عبدالمجیدخان کابلی ساعت جوړونکی.
۲۴. د مولوي محمدسرورخان ورور عبدالرحمن خان کندهاري (چې په جیل کې وفات شو)
۲۵. شیرعلي خان بارکزایي.
۲۶. ملا محمد اکبر اخندزاده اسحاق زی
۲۷. جلال الدین خان کندهاري.
۲۸. کاکا سید احمدخان لودي.
۲۹. د سردار عبدالوهاب خان زوی عبدالرحمن خان محمدزایي.
۳۰. د عبدالرحمن خان زوی حبیب الله خان محمدزایي.
۳۱. محمد رسول خان محمدزایي اجیدن.
۳۲. امرالدین خان.
۳۳. مولوي مظفرخان بلوڅ خروټي.
۳۴. ډاکتر عبدالغني خان پنجابي.
۳۵. مولوي نجف علي خان د ډاکتر عبدالغني خان ورور.
۳۶. محمد چراغ ددغه ډاکتر ورور.
۳۷. مولوي محمد حسین پنجابي.

Scanned by CamScanner

## هغه شمېر، چې دامیر په واسطه له بندي کېدو څخه وژغورل شول

۳۸- مولوي غلام محی الدین خان چې افغاني تخلص يې و او د سرحد له افغانانو څخه و او په حبیبیه کې ښوونکو.

۳۹- سردار حبیب الله خان طرزي محمدزايي.

۴۰- حاجي مرزا محمد اکبر خان یوسفي د کابل د ماشین خانې منشي.

۴۱- حاجي عبدالعزیز خان (چې په لنګر زمین سره یادید)

۴۲- محمد اسلم خان سیغاني د امیر د دربار میرشکار.

۴۳- صاحبزاده عبدالله خان مجددي.

## هغه شمېر د ګوند غړي چې دولت ته د چوپړ په بدل کې مکانات ورکړل شو

۴۴- دحربي فابریکې تخنیکي کار کوونکي محمد عظیم خان نظامي بریګډ رتبې ته اوچت کړل شو.

۴۵- ملا منهاج الدین خان (چې د شهزاده محمد کبیر خان ښوونکی و)

امیر حبیب الله خان وروسته له دغې پېښې څخه د وژل شویو او بندي شویو مشروطه غوښتونکو کورنیو او د دوستانو سره څه کار نه درلود او له مشروطه غوښتونکو څخه د تحقیق په ترځ کې يې دوی شکنجه نه کړل. امیر وروسته تر څه مودې د هغوی څو تنه له جیل څخه را وایستل لکه: سردار عبدالرحمن خان احمدزی، سردار حبیب الله خان محمدزی، سردار محمدرسول خان محمدزايي اجيدن، غلام محمد خان انځورګر، چې دربار دده هنر ته اړ و. محمدانور خان بسمل هم له بند څخه آزاد شو، چې هغه دده د پلار د درناوي له لامله و، میر قاسم خان هم د هغه د پلار د معنوي دریځ په درناوي راخوشې شو (ملا غلام جانخان دده پلار د امیر استاد و) حافظ عبدالقیوم خان يې د متصوف پلار (حافظ مجذوب) د کابل غوره شاعر په درناوي راخوشې شو او میرزمان الدین هم له زندان څخه راووت.

په هر حال، د ديموکراسي لومړنی عملي غورځنګ د آزادي غوښتونکو په وژلو او د نور شمېر يې په بندي کولو سره په ۱۹۰۹م. کال کې سمدستي غلي شو. بندیان دوه ډوله وو یو شمېر يې په زولانه، غړه او بغرا (د وسپنې غړوندي او زنځير) کې تړلي و چې د سلطنتي ارګ په جیل کې پراته وو، بل شمېر يې په زولنو کې تړلي وو او د شیرپور په جیل کې اچول شوي وو او د کوټه قلفي په بڼه ساتل کېدل، چې دوی نهه کاله په بند کې پاتې شول.

دولت دوی هر یوه ته په یوه ورځ کې دوه و چې ډوډۍ ورکولې. په ۱۹۱۸ کال کې د ارګ بندیان په شور بازار کې یوه بل سرای ته بوتلل شول. وروسته بیا کله چې په امیر باندې د تومانچې وار وشو. دغه بندیان بېرته د ارګ جیل ته یوړل شول. او په سیاسي بندیانو سختګیري نوره هم کلکه شوه. ددغې پېښې په ترځ کې بندي شویو مشروطه غوښتونکو ډېر په مېړانه مقاومت وکړ او دا يې ثابته کړه، چې د یوې نوې ایدیالوژۍ لومړني لارویان او هغه ډېر صمیمي خلك دي، چې غوښتنې يې په عقیده او ایمان

Scanned by CamScanner

ډېره لګوي او له حرص، ویرې او دوکې څخه پاك خلك دي.

د هېواد په حاکمه او محکومه طبقه کې د دغې پېښې غبرګونونه په بېلابېلو بڼو باندې وو. په دې معنا، چې وروسته تر دغې پېښې امیر حبیب الله خان، د معارف له عاملو څخه ډېره وکړه یو اخې هماغه کوچنی معارف یې پرېښود. د دغه معارف پایله وروسته تر ۱۲ کلونو څخه په ټول افغانستان کې یواځې شل تنه بکلوریا فارغان وو، هغوی هم څو کاله نور بیا کله روغتون او کله د جبل السراج د برېښنا فابریکې ته د تحصیل په خاطر لېږل را لېږل کېدل.

چې نه طبیب ورڅخه جوړ شي او نه هم انجنیر. نایب السلطنه سردار نصرالله خان په دې قانع و، هغه په عام دربار کې امیر ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې موجود ښوونځي دې لغوه کړي او ویې ویل، چې له معارف څخه مشروطه را پیدا کېږي او مشروطه د سلطان د شرعي واك مقابل نقطه ده، خو د مشروطه غوښتونکو خپل په پاتې روڼ اندو باندې ډېره ژوره اغېزه وکړه. په کابل کې ورو ورو کوچنۍ پټې کړۍ جوړې شوې، چې د عثماني انقلاب، د روسیې د نهیلستانو او د ختیځ هېوادونو د مشروطه غوښتونکو او خپلواکي غوښتونکو د فعالیت په هکله یې آثار لوستل، ځینې وخت به دوی دغه ډول آثار په خطي نسخو کې ولیکل او یو بل ته به یې رسول. له دې لامله چې په اسلامي هېوادونو کې د نورو په پرتله ترکیه د انقلاب په نږدې درشل کې وه، نو ځکه ترکي آثار ډېر د پاملرنې وړ و، یو شمېر روڼ اندو تر ترکي ژبه د همدې موخې په خاطر زده کړه، خو دغه خپلواکي غوښتونکي پوهېدل، چې نشي کولای د دولت تر برچې لاندې یو پټ پیاوړی ګوند جوړ کړي، نو ځکه په هماغو څو کوچنیو کړیو کې ایسار پاتې شول. له دې لامله چې د قانوني او ښکاره مبارزې لاره بېخي تړلې وه، ځینې وختونه به یې لاسکښلې شپې پاڼې خپرولې، چې په هغو کې موخه په خپله پاچا و. آن دا چې د دغو کړیو څخه یوه تن د باچا د وژلو نیت وکړ. خو بریالی نه شو یعنې د لومړیو مشروطه غوښتونکو له ځپلو څخه نهه کال وروسته په ۱۹۱۸ کې عبدالرحمن خان لودي (د کاکا سید احمد خان زوی) د سراج الاخبار محرر، چې یو اورنی رادیکال ځوان و، د امیر حبیب الله خان د زېږېدنې د جشن په شپه په شور بازار کې د باغ قاضي له کوڅې سره د امیر د سورلي موټر ته په تمه کښېناست او خپلې تومانچې سره د یوې هټۍ په بام غلی شو (هغه مهال داسې معموله وه، چې پاچا به د کابل د رڼا شویو شپو او جشنونو په ترځ کې د شور بازار او چوك او ارګ له بازارونو څخه تېرېده. کله چې د امیر موټر د دغې هټۍ مخې ته ور ورسېد. د عبدالرحمن خان لودي د تومانچې ډز وا اورېدل شو، خو ګولۍ د موټر په وسپنه ولګېده، موټر په بېړه تېر شو او امیر روغ پاتې شو. سبا ته د کابل ښار له جاسوسانو ډك و او مرزا محمد حسین خان مستوفي الممالك په ډېر کلك ډول سره ملا وتړله چې سړی پیدا کړي. په دوی کې یو ډېر نامتو جاسوس (د کونډۍ زوی سرور) چې په همدې کوڅه کې یې د سیمساري هټۍ لرله، هغه لا له وړاندې عبدالرحمن خان لودي څارلی و (د عبدالرحمن خان کور دده له هټۍ څخه لږ پورته د سنګتراشۍ په کوڅه کې و. په هر حال عبدالرحمن خان په وسپنیزو غړوندیو او زنځیرونو وتړل شو او د ارګ په جیل کې کوټه قلفي شو. دې پسې وروسته یوه بله ډله او روڼ اندي چې د عبدالرحمن خان له دغه کار سره یې کوم تړاو نه درلود، جیل ته واچول

Scanned by CamScanner

شول، لکه عبدالهادي خان داوي، چې پریشان تخلص یې و، عبدالحمید خان کمیدا، محمد اسحق خان قزلباش (د محمد اکبر خان چنداولی زوی)، د حربیې د ښوونځي زده کوونکي شمس الدین خان او حربیې ښوونځي زده کوونکی شیر محمد خان (چې په افغان بیګ مشهور و) خو امیر حبیب الله خان د دوی د هیڅ یوه د اعدام تاریخي مسئولیت په غاړه وانخیست، ټول یې په جیل کې وساتل.

عبدالرحمن خان یو هلوور د ځیرو تورو سترګو لرونکی ځوان و، چې یو څه څورب غوندې برېښید. ونه یې منځنۍ اندازه او بڼه یې غنم رنګه وه. هغه د جدیت سره سره ظریف او ټوکي هم و، چې په عربي، اردو، ترکي او انګلیسي ژبو باندې یې مطالعه کوله. په دري ژبه کې یو نوښتګر او خپلواک شاعر و، حال دا، چې د هغه رسمي تحصیلات د حبیبیې په لیسه کې له رشدیه درجې څخه پورته نه و. اوس د هغه د نثر او نظم، سیاسي او ټولنیزو لیکنو، د هغه مهال د اداري د مهمو څېرو د بیوګرافۍ رساله او په دري ژبه باندې د هغه د پښتو لغاتو ستر قاموس چې ټول یې خطي نسخې وې، یو هم نه دی پاتې، خو ډېر لږ برخه یې په لاس کې شته. دلته د نوموړي د کلام یوه هغه بېلګه راوړو، چې د لومړۍ نړیوالې جګړې په ورځو کې یې د امیر حبیب الله خان[۱] د منفي ناپېیلۍ سیاست په اړه او د انګرېز له دولت سره د امیر جوړ جاړي د غندنې په هکله لیکلی و:

## نعره

ای ملت از برای خدا زودتر شوید    از شر مکر و حیله دشمن خبر شوید
تا از صدای صاعقه‌اش کنگ و کر شوید    وانگه چو رعد نعره زنان در بدر شوید
مانند برق جلوه کنان در نظر شوید

از یکطرف نهنگ و زدیگر طرف پلنگ    هر دو بخون مادهن خویش کرده رنگ
اکنون که گشته اند بخود مبتلا ز جنگ    جهدی کنید بهرچه هست اینهمه درنگ
در حفظ را حق همه تیغ و سپر شوید

این وقت فرصت است نهنگام جشن و سور    هر کس که فرت میکندش میشود کفور
پس در همین خلال و چنین حال و این فتور    تیزی و سعی و همت تان اینقدر ضرور
تا از برای چشم عدو نیشتر شوید

امروز در تمامی عالم چه شور و شر    برپا او ما نشسته از آنجمله بیخبر
بی فکر سود نی سرسود ایمان بسر    افسوس پر فلاکت حال چنین بشر

---

۱- امیر حبیب الله خان له ګلف لوبې سره ډېره مینه لرله او تل به یې په حضوري چمن کې ګلف لوبه کوله.

Scanned by CamScanner

بایـد ز شـرم آب ز پاتـا بسـر شـوید

الله عـالم اسـت کـه اینخصـم بد سرنوشـت　اینحب حب خویش چسان کرده است کشت
تا هیچ فـرق کـرده نیابـدر خـوب و زشـت　نقشـی چنـین بسـاط بیایسـت درنوشـت
ترسـم خـدا نخواسـته زیـر و زبـر شـوید

خصم بـزرگ خـویش شناسـید انگلیـز　زان پـس عـدوی دیگرتـان اسـت روس نیـز
در ایـن زمانـه عهـد نیـرزد بیـك پشـیز　داریـد ملـت و وطـن خویشـتن عزیـز
بـا اتحـاد جملـه چوشیر و شکر شوید

حاضر کنید اسلحه کوبیـد طبـل و کـوس　آریـد رو بـه جنگ چـو عثمانی و پـروس
تـا حلـق انگلیـز فشـارید و نـای روس　در جـاغر تفنـگ گذاریـد کـارتوس
چون شیر راست سوی مخالف بدر شوید

بـاری بسـتر سـوزن سـاعت نظـر بـدوز　در لمحـه هـا و لحظـه و سـاعت گذشـت روز
همـواره در تلـف گـذرد عمـر مـا چویـوز　افتـاده و ز بهـر چـه اسـتاده گـی هنـوز
چیـزی شـوید یـا کـم و یـا بیشـتر شـوید

ای غافـل از زمانـه و شـاغل بـه لهـو و گلف[1]　بـا دشـمن خبیث کسـی کـرده اسـت حلف؟
خود فکر کـن عـدو نکنـد چـون ز عهـد خلـف　بایـد کریسـت بـر سـر ایـن احمقـی و جلـف
تا چنـد بـرای دیـدن حق کـور و کـر شـوید

زینسـان کـه در کـلاه و فراکـوت و بـوت نـو　از رشـك میبریـد یکـی از دکـر گـرو
ترسـید ز انگلیـز چـو اطفـال از ببـو　تـا کـی پـس از دریـژ نکوییـد زیـرزو
یکبـار لازم اسـت بعـزم سـفر شـوید

این کـرچ راسـت در کمـر و جیغـه در کـلاه　بـس وضـع خـوب و فیشـن روز اسـت واه واه
امـا چـه عیـب روشـن و بـی همتیسـت اه　کـین هـر دو محـض بهـر نمـایش شـود نگـاه
بایـد بـر ایـن حمیت خـود نوحـه گـر شـوید

از حـال پرتاسـف ایـن ملـت نجیـب　خـواهم بیـان کـنم بـه حضـور تـوای ادیـب
تـا کـی کـه بشـنوی یـا الله و یـا نصـیب　زیـن داسـتان نغـز چنـین قصـهٔ عجیـب

۱. امیر حبیب الله خان د ګلف له لوبې سره ډېره لېوالتیا لرله او هر وخت به یې په حضوري چمن کې دغه لوبه کوله.

بهـر شـنیدن سـخنم گـوش اگـر شـوید

گـر مسـتبدی ز روی جهالـت عتـاب کـرد   یـا غیـر حـق کـدام کسـی را عـذاب کرد

یـا بهـر نفـع و بیخبـری غفلـت و درواغ   انداختـه بگـردن مـا حلقـه چـو یـوغ

گویند در اطاعـت مـا گـاو و خر شـوید

گرمسـتبدی ز روی جهالـت عتـاب کـرد   یـا غیـر حـق کـدام کسـی را عـذاب کرد

یـا بهـر نفـع خـویش جهـانی خـراب کـرد   ناچـارش عقـل عـالم و آدم خطـاب کرد

تا کی بکشف حال چنین خیره سر شوید

هـر کجـا کـه جاهلیسـت پـراز جهـل وابلهـی   تفتـیش در معـارف مـا میکنـد زهـی

چشـمش پـر از حـرام دلـی از خـرد تهـی   پـس ای بـرادران چـو چنـین است گمرهی

بهـر خـدا از حـال وطـن بـاخبر شـوید

برنقـد و جـنس مـالی مـا خاینـان امـین   در مجلـس سیاسـی مـا جـاهلان مکـین

نـی فکر و هوش و قلب نه وجدان عقل و دیـن   تـا بهـر انتبـاه صـدایی کشـد چنـین

کـی غـافلان ز خـواب تـنعم بـدر شـوید

هر یـك نشسـته است بـه زیـن انچنـان تلـك   کـش نیسـت غـم ز ملـت و پـرواش از ملك

باصـد غـرور و کبـر همیتـاز داسـپ دك   کـس نیسـت تـا بسـینه ایشـان کند شلك

خوب ایخران چرید که تا چاغتر شوید

هر لحظـه چـون خیـال چنـین حـال غـم فـزا   آیـد بسـر ز جـوش شـود فـرق مـن جدا

دایـم بـآه و نالـه و افغـان کـنم نگـاه   انـدر هجـوم اشـك همیگـویم ایـن دعا

کـی ظالمـان خـاك بسـر در بـدر شـوید

د افغانستان د سیاسي انقلاب (۱۹۱۹) په ترڅ کې عبدالرحمن خان لودي له نورو بندي رڼو اندو سره یو ځای راخلاص شو او د امانیه دورې د دولت، په مامورینو کې په کار وګومارل او د (امان افغان) رسمي اخبار په اداره کې په شوروي اتحاد کې د افغانستان د فوق العاده سیاسي هیئت د غړي په توګه، د قانون جوړونې د مجلس د غړي په توګه. د پښتو مرکې د غړي په توګه، د کندهار د ښاروالۍ د مشر په توګه او د کابل د ګمرك رئیس په توګه دندې ترسره کړې. عبدالرحمن خان په دغه ټوله دوره کې د کینې لاسو په سیاسي کړه کې پاتې شو او د سقوي اړ-دوړ پر مهال یوځل بیا د ارګ جیل ته واچول شو. دا مهال په کابل کې یو ناسمه خبره خوره شوه، چې د سقو زوی هغه اعدام کړی دی، دغه خبر لکه د برېښنا

په شان په روڼ اندو اغېزه وکړه، چې يوه ميمنه کې ځوان هغه ته لاندې ويرنه هم وليکله:

**((بیاد شهادت عبدالرحمن))**

چنـان شـهادت تـو حـال مـن پـریش نمـود
کـه خـون زدیـده روان قلـب چـاك ریـش نمـود
سـتمگری کـه تـرا کشـت سـخت نـادم شـد
چـرا کـه کینـهٔ ملـت بـه خـویش بـیش نمـود
فـدای پیکـر خـونین لخـت لخـتش مـن
کـه سـینه را سـپرتیغ کـرد و پـیش نمـود
شـهید عشـق وطـن زنـده اسـت، قلـبم ازان
بـه شـوق نـام و را ورد خـود همـیش نمـود
چـه دیـد ظلـم و چـه نوشـید خـون دل بـه وطـن
چـو نـوش جـام شـهادت ز تیـغ و نـیش نمـود
بـه ایـن خیانـت و مکـری کـه تـو شـهید شـدی
کجـا چنـین سـتمی کـس بـه هـیچ کـیش نمـود
چنـان سـتم کـه بـه تـو کـرد آن جفـا پیشـه
نـه هـیچ گـرگ فرومایـه یـی بـه مـیش نمـود
نشـین بدیـده ئـی ((خانقـاهی)) عبـدالرحمن خـان
بـه بـین زهجـر تـو مـردم چهـا بخـویش نمـود

حال دا، چې ډېر ژر څرګنده شوه، چې د عبدالرحمن خان لودي د اعدام دغه خبر په ناسمه توګه خپور شوی، نو ځکه د سقاو زوی هغه راخوشې کړ. خو په راتلونکي کې (د ۱۹۳۰ کال په ترځ کې) دغه ځلنده استعداد لرونکي هېوادپال د سياسي نظر له مخې په ګوليو وويشتل شو. دا مهال هغه ۳۷ کلن و.

## سراج الاخبار (۱۹۱۱)

امير حبيب الله خان په ۱۹۰۵ کې د سراج الاخبار په نوم يوه جريده کابل کې خپره کړه او د هغې د خپرولو اجازه يې د شاهي مدرسې ښوونکي مولوي عبدالروف خان ته ورکړه، خو د هغې يواځې يوه ګڼه خپره شوه، چې هغه هم ډېره لږ موندل کېږي.

په ۱۹۱۱ کې يو ځل بيا د سراج الاخبار جريدې د محمودطرزي په مديريت او لارښوونه په خپرونو پيل وکړ، چې تر ۱۹۱۹ کال پورې يې دوام وموند. دغې جريدې د هېواد په ټولنيز ادب کې يو نوی مکتب

پرانیست او د نوي سیاسي اوادبي خپرونې کړکۍ یې د نوې نړۍ د ژوند په لوري پرانیستې. جریدې د هېواد د بشپړې خپلواکۍ په هکله خبرې وکړې او د انګرېزي دولت له استعماري واکمنۍ سره یې کلک مخالفت وکړ. دا یوازې نه، بلکې کله نا کله به دغې جریدې د کورنۍ اداري نیمګړتیاوو ته هم ګوته نیوله، نوځکه دغه ورځپاڼه د هېر ژر د هېواد د سمونپالو او خپلواکي غوښتونکو یو ځرګند د مرکز وګرځېد. البته دغې جریدې چې د دولت تر مستقیم نظر لاندې په یوه مطلق العنان چاپېریال کې خپرېده، نشو کولای چې له استبداد او په خپله د پاچا له شخصي چلند سره تماس ونیسي یا لیکنه وړاندې وکړي، خو ځکه یې د خپل ژوند د پایښت لپاره د پاچا ستاینه هم کوله، چې په دغه ستاینه کې به یې کله کله مبالغه تر غلو حد پورې ورسېده. دغې جریدې یو شمېر مقالې (د اعلیحضرت د ښېګڼو او ثناياوو) په هکله ولیکلې او د پاچا د دربار سفرونو، ښکارونو او ګرځېدو په هکله یې خبرې وکړې، د بېلګې په توګه د امیر د ښکار په مدح کې یې ولیکل، چې:(۱)

شکار ګاه چناری:

همه آهوان صحرا سر خود نهاده برکف
بامید آنکه روزی بشکار خواهی آمد

یا هم دا، چې په یوه لړۍ کنابي سره یې داسې لیکلي وو:

"زمونږ ستر مکرم پاچا پر قوم (محمدزیو) او د ده په شاهانه ملت باندې یو کریم او مشفق پلار دی. ټول جلیل قوم، چې په سنیه افغانیه سلطنتي کورنۍ پورې تړلي، په نسبي توګه تنخواه لري. نسبي تنخواه داده، چې ددغه قوم نارینه وګړي کله چې د ماشومتوب له عمر څخه د ځوانۍ عمرته قدم ږدي څلور سوه کابلۍ روپۍ او ښځینه ورته درې سوه روپۍ تنخواه مقررېږي دا یو لوی احسان دی، چې په دې توګه په هېڅ ځای کې هېڅ قوم ته برابر نه دی."

آن دا، چې سراج الاخبار به د امیر د خوشحالولو لپاره د ترکیې او ایران دیموکراتیك غورځنګونه هم رټل، خو بیا هم سراج الاخبار د یو شمېر شهزاده ګانو اوامان الله خان او د روڼ اندو فکري ښوونکي او روزنکي وو او د افغانستان په سیاسي انقلاب کې یې اغېزه وه. ددغې جریدې رسمي اوغیر رسمي ګډون کوونکي ۱۴۰۰ تنه وو. روڼ اندو باندې محمود طرزي د زړه له تل څخه ګران و. د محمود طرزي پلار سردار غلام محمد خان طرزي د امیر عبدالرحمن خان له مخالفینو څخه و، چې په ۱۸۸۱م. کال کې د امیر له خوا هند ته تبعید شوی و. هغه ۱۸۸۴ کال کې له کراچۍ څخه بغداد ته او بیا استانبول ته ولاړ او بیا په شام کې مېشت شو تر څو چې هلته په ۱۹۰۰ کال کې وفات شو. محمود طرزي په ۱۸۲۸ په غزني کې زېږېدلی و، په ترکیه کې یې زده کړه او پراخ مطالعات وکړل. د ترك ځوانانو انقلابي او فکري غورځنګونه (د اتحاد او ترقۍ ګوندونه) یې تحلیل کړل. کله چې په ۱۹۰۳ کې افغانستان ته راستون شو په نثر او نظم کې یې په ژباړه پیل او بېلا بېل آثار یې خپاره کړل لکه: سراج الاخبار، سراج الاطفال، سیاحت در سه قطعه زمین، علم و اسلامیت، آیا چه باید کرد؟ ادب در فن، جغرافیای منظوم، معلم

---

۱- سراج الاخبار، نهمه ګڼه، پېنځم کال، درېیم مخ.

Scanned by CamScanner

حکمت، فلسفه وطن، از هر دهن سخنی، پراګنده او د ژول ورن ناولونه، سیاحت در دور زمین، سیاحت در جو هدا، سیاحت در زیر بحرو جزیره پنهان.

محمود طرزي ځان نیکمرغه باله، چې په خپل ژوند کې یې افغانستان د انګریزانو په وړاندې بریالی ولید او هېواد یې خپلواك شو او د نړۍ د نوي فرهنګ او تمدن غوړېدل یې پکې تر سترګو شول. هغه په ۱۹۱۹ کال کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او د اماني دولت یو غړی شو او په منصوري او کابل کې د سولې د افغاني هیئت مشر و. طرزي یو مهال په فرار کې د افغانستان مختار وزیر شو او بیا بېرته راستون او د بهرنیو چارو وزیر شو. د سقاو زوی په اړ-دوړ کې له کابل څخه کندهار ته او له هغه ځایه هرات ته ولاړ ددغه اړ-دوړ جوړوونکو د هغه نوم په تور لست کې ورکړی و، دغه لست ټول د خپلواکي غوښتونکو او هېوادپالونکو له نومونو ډك و، چې ټول یې په اعدام محکوم بلل شوي وو، خو طرزي په ناڅاپي توګه ور څخه وژغورل شو او استانبول ته ولاړ، تر څو چې هماڵته په ۱۹۴۴ کال کې وفات شو. د طرزي یو ځوان ملګری په سراج الاخبار کې عبدالهادي داوي و چې په ۱۸۹۵م. کې په کابل کې زېږېدلی و او د حبیبیې په لیسه کې یې تر رشیدیه ټولګي پورې لوست ویلی و. داوي له پخوا ذکر شوي عبدالرحمن لودین سره یو ځای د سراج الاخبار په اداره کې محرر او یو د بل سیالان وو. داوي یو حساس لیکوال او یو دردمند شاعر و، د هغه آثار کم او زیاد په سراج الاخبار کې خپرېدل د هغه ډېر مشهور منظوم آثار کلهٔ مستت او بلبل ګرفتار دي. هغه په ۱۹۱۸ کې په ارګ کې بندي شو، خو د ۱۹۱۹م کال په انقلاب کې بېرته راخلاص شو او د «امان افغان» د نوي اخبار دمدیر په توګه وګومارل شو. له دې څخه وروسته تر سقوي اړ-دوړ پورې په افغانستان کې په بېلا بېلو څوکیو کې کار وکړ لکه: په بهرنیو چارو کې د مدیر په توګه، په دغه وزارت کې د مستشار په توګه- د منصورې د سولې کنفرانس کې غړی، د بخارا په دربار کې فوق العاده سفیر، په لندن کې د افغاني وزیر مختار او د سوداګرۍ وزیر و.

داوي په دغه ټوله موده کې د یوه وطنپال خپلواکي غوښتونکي او سمونپال په توګه د درناوي وړ څېره وه، داوي له سقوي اړ-دوړ څخه وروسته په ۱۹۳۰ کې برلین ته د افغاني سفارت مختاري دنده واخیسته، خو ډېر ژر یې استعفا وکړه او بېرته هېواد ته راستون شو، چې بیا په ۱۹۳۳م. کال کې په ارګ کې بندي کړل شو. ددغه سیاسي بند کړاو ۱۳ کاله وربانديې تېر شو، چې په دې ترڅ کې داوي د ځوانۍ له عمر څخه واوښت او تور وېښتان یې سپین شول، ډېر ستومانه و، نو ځکه یې له سیاسي مبارزې څخه لاس واخیست، خو یواځې د دولت د یوه لوړ رتبه مامور په توګه پاتې شو. دا یې د ځوانۍ د ورځو د کلام یوه بېلګه ده:

Scanned by CamScanner

## تا بکی؟

تابکی اولاد افغان تابکی
تابکی هان تابکی هان تابکی
کو کوی مرغ صحر آمده به گوش
خرخر خواب ای گرانجان تابکی
نور بیداری جهانی را گرفت
خواب غفلت ای حریفان تابکی
سبزه خوابیده هم برداشت سر
بر نمیداری تو مژگان تابکی
میرسد آواز سبیل از راه دور
تو به خواب ای خانه ویران تابکی
میوزد باد خزانت در چمن
شوق گلگشت بیابان تابکی
باید بر حال خویشت خون گریست
سیرا نهار و گلستان تابکی
شوق تعمیر سرای و خانه چند
خاکبازی همچو طفلان تابکی
روزکار و روزگار عبرت است
خواب راحت در شبستان تابکی
هست مکتب جان ملت، جانمن
تابکی باشیم بیجان تابکی
کودکان را مکتب است و مدرسه
خاکبازی در بیابان تابکی
یکنفس سر در گریبان در کنید
فکر کالرای جوانان تابکی
رفت وقت خنده و هزل و مزاح
خودرسالی خورده سالان تابکی
ای قلم آخر زبانت میبرند
اینقدر حرف پریشان تابکی

## د درباري سري ګوند

له دغو پټو او ښکاره فکري غورځنګونو پرته په خپله په دربار کې دننه هم د بدلون زړې ودې ومونده
درباري لیبرال سمونپال، چې د امیر له چلند څخه کرکجن وو. خپله یې کوم ځواك او واك نه درلود، نو
ځکه د شاهي کورنۍ د یو غړي په شا و خوا کې راټول شول. دغه سړی سردار نصرالله خان نایب السلطنه
نه و. کوم چې د پاچا تر ټولو مشر غړی و، دا ځکه سره له دې. چې هغه د استعمار ضد او د هېواد د
خپلواکۍ غوښتونکی و، خو د هېواد په اداره کې یې د منځنیو پېړیو نظم غوښت او د شخصي مطلق
العنان سلطنت پلوی و. خو معین السلطنه د امیر مشر زوی، چې د امیر د ولیعهد حیثیت یې درلود.
دخپل پلار ربښتینی پیرو او د هغه د کورنۍ بهرنۍ پالیسي پلي کوونکی و. نو هغه یواځینی څوك.
چې په شاهي کورنۍ کې د دربار د لیبرالانو د پام وړ وګرځېد. عین الدوله امان الله خان و. دا ځکه چې
هغه د پاخه نظر لرونکی. ترقي پال. خواریکښ. متواضع او د ښه چلند لرونکی ځوان و. په دې توګه
عین الدوله د بېر ژر د دربار د یوې نوښت غوښتونکې ډلې په سر کې راغی او وروسته یې بیا د اردو له
یو شمېر لوړ پوړو افسرانو سره هم اړیکې ټینګې شوې. دا یواځې نه. بلکې هغه وکولای شول، چې
نایب السلطنه د دغه پټ ګوند د مشر په توګه وټاکي او په یوه کودتایي نقشه کې یې راګډ کړي. یعنې
امیر حبیب الله خان به په جلال آباد کې د عسکرو په لاس له منځه وړل کېږي او ځای به یې نایب السلطنه
ته ورکول کېږي او نایب السلطنه به بیا د خپلواکۍ د ترلاسه کولو او د کورنۍ اداري د سمون په لاره کې
هڅې کوي. نایب السلطنه له انګرېزانو څخه کرکه لرله او د خپل ورور له اداري څخه هم ناخوښه و، نو
دغه نقشه یې ومنله په دې توګه دغه ګوند لس-دولس تنو یوه ژمنه په قرآن شریف کې ولیکله او هغه یې
لاسلیك کړه او نایب السلطنه ته یې وسپارله. په داسې حال کې چې عین الدوله په دې باندې پوهېده،
چې دده تره به وروسته له واکمن کېدو څخه د هېواد د ترقۍ او تحول په لاره کې یو ګام هم اوچت نه
کړي، نو په دې توګه دې خپله شخصاً د واك د ترلاسه کولو په لټه کې و هېڅ له اتکل څخه لرې نه دە.
چې په دغه کړۍ کې به خامخا یو شمېر نور ځواکمن او واك غوښتونکي خلك هم وو. چې له نایب
السلطنه او عین الدوله سره یې د ځرګند ملګرتوب سره سره. هغه یو هم نه غوښت او ځانته به د سلطنت
غوښتونکی و. ددغې کړۍ د مهمو غړو په منځ کې عین الدوله تر ټولو رادیکال و. په دربار کې یو
شمېر غړي لکه محمد ولي خان او شجاع الدوله خان او د اردو په لویو افسرانو کې او له هغو څخه بهر
هم یو شمېر خلك وو لکه فضل محمد صاحب مجددي (شمس المشایخ)، سردار عبدالقدوس خان
اعتماد الدوله او یو شمېر نور. دوی ټول د عین الدوله امان الله خان پلویان وو د کابل او شا و خوا
سیمو خلکو هغه پېژاند. په تیره بیا د کال په دوو میاشتو کې، چې هغه په کابل کې د سلطنت وکیل و،
نو د هغه له خوا د چارو ښه ترسره کول او د خلکو د شکایت اورېدل او د بندیانو کتل یې خلك خوښ
ساتلي وو، خو هغه چا چې نوموړی د پر تر خارنې لاندې نیولی و او ورپسې و، هغه مرزا محمد حسین
خان مستوفي الممالك و هغه به په کابل کې هر حرکت لکه د پټو لیکنو خپرول، د تومانچې ډزې او نور
ټول د عین الدوله په غاړه ور اچول. حال دا چې داسې نه وه، عین الدوله او د دربار کړي بل مهم هدف

Scanned by CamScanner

درلود. دوې هېڅکله په وینوونکو او ګوابن لرونکو چارو لاس نه پورې کاوه، خو بیا هم امیر په عین الدوله باندې شکمن شو، نو ځکه یې هغه او د هغه مور تر ګوابن لاندې راوستل بندي یې کړل او طلاق یې ورکړ. نو ځکه دوی له دواړو نایب السلطنه ته مخ ورواړو نایب السلطنه ډېر په آسانه دغه له خطر څخه وژغورل او د دوی د راتلونکو عملونو ضمانت یې وکړ.

په ۱۹۱۸ کې په شور بازار کې په امیر باندې د تومانچې وار وشو. دغې ناڅرګندې پېښې د دربار سیاسي کړۍ پریشانه کړه. د همدغه کال په ژمي کې د دربار پټ ګوند پریکړه وکړه، چې امیر حبیب الله به په جلال آباد کې له منځه وړي او لومړی به نایب السلطنه د پاچا په توګه وټاکي. خو نایب السلطنه په ټاکلې ورځ له خپل کور څخه په جلال آباد کې را ونه وت. کله چې د ګوند استازی هغه ته ورغی، چې هغه له کور څخه راوباسي. نایب السلطنه د خپل پخوانۍ پرېکړې سرچپه، ځواب ورکړ. چې زه د امیر له وژلو سره موافق نه یم، خو که بندي شي مخالفت نه لرم. د نایب السلطنه دغه ډول خبره، چې په قرآن کریم د ګوند ژمنه دهغه په لاسو کې وه. یو نه پتېدونکی سند و. نو د دربار ګوند یې ټول ولړزاوه. په دې توګه ټوله نقشه او چارې وځنډول شوې. په دې توګه یو کال نور هم د عین الدوله او د هغه د ملګرو سا ډوپه ډوبه کېده. دا ځکه چې اوس نو د دوی ژوند ټول د نایب السلطنه په لاس کې و، خو نایب السلطنه عقیدې له مخې داسې سړی نه و، چې خپل ژمن ملګري خطر سره مخامخ کړي. په دې توګه ټول غلي شول. البته ګوند بیا هم د یو مناسب فرصت په کمین کې و. کله چې ۱۹۱۹ کال را د بره شو، نو امیرحبیب الله په لغمان کې ووژل شو. نایب السلطنه بندي شو، عین الدوله په کابل کې د افغانستان سلطنت او د هېواد خپلواکي اعلان کړه. مرزا محمدحسین خان مستوفي الممالك کابل کې ووژل شو، انګرېزانو ماتې وخوړه او په افغاني ټولنه کې ژور بدلونونه راغلل.

## ددغې دورې بهرنی سیاست

امیرحبیب الله خان، چې کله د سلطنت پر تخت کښېناست، په پیل کې یې د انګرېزانو په وړاندې یو بې اعتنا سیاست غوره کړ او د هند د وایسرا لارد کرزن غوښتنې، چې د هندي ښکېلاك یو نامتو ښکېلاکګر، او د ایران او د افغانستان یو کلك دښمن و، هند ته دده سفر او له هغه سره د کتنې په هکله ونه منلې او له پېښور څخه تر ډکې او له چمن څخه تر کندهار پورې د انګرېزانو وسپنې د پټلۍ د کرښې د غځولو په هکله یې د هغه نظر رد کړ. کرزن ویلي وو، چې افغانستان د خپلواکۍ د دفاعي چارو د چمتوالي په خاطر باید افغاني اردو د انګلیسي افسرانو په لاس کې وروزل شي. امیر دغه غوښتنه هم ونه منله. کرزن په غوسه شو او لندن ته یې وویل، چې امیر تر ګوابن لاندې ونیسي، خو لندن ونه منله او ویې ویل، چې که څېرې امیرحبیب الله خان د هند له حکومت سره اړیکې وشلوي هم، باید له افغانستان سره جګړه ونشي دا، ځکه چې انګلستان روسیې ته د افغانستان له لېوالتیا څخه په ویره کې و، په تېره بیا چې د روسیې د بهرنیو چارو له وزارت سره دا پوښتنه وه، چې ولې باید روسیه له افغانستان سره سیده اړیکې ونه لري.

Scanned by CamScanner

د افغانستان په دربار کې زیاترو مهمو کسانو لکه سردار نصرالله خان نایب السلطنه، سردار امان الله خان عین الدوله، ناظر محمد سفرخان امین الاطلاعات او سردار عبدالقدوس اعتماد الدوله او همدا رنګه داردو لویو افسرانو سره د انګرېزانو سره د مبارزې فکر و او غوښتل یې، چې د افغانستان خپلواکي ډاډمنه او خوندي شي. ددغې ډلې د خلکو نظر په معنوي توګه د افغانستان د ټول ملت، د سرحداتو د خلکو، روڼ اندو، روحانیونو او هغو سوداګرو له خوا، چې د افغانستان په بازار کې د هندي تجارو له واك څخه په غوسه وو او نورو له خوا پیاوړې کېده او ملاتړ ورڅخه کېده، حال دا چې د دربار ښي لاسي ډېر لږ وو. چې له انګرېزانو سره د جوړجاړي او موجوده حالت د ساتنې پلوي یې کوله. د انګلیس دولت درې د افغانستان له دغه ډول چلند سره مخامخ و. تر څو یې په ۱۹۰۴م. کال کې د سر لوییز دین تر مشرۍ لاندې یو سیاسي پلاوی کابل ته واستاو. دین دري ژبه باندې پوهېده. لکه هماغسې چې امیر حبیب الله خان په انګلیسي پوهېده. خو سره له دې هم په مجلس کې دوه ژباړونکي وو. دین د انګرېزانو د پخواني عادت سره سم په خپل جیب کې د یوه نوي تړون مسوده درلوده، چې باید پرته له دې او هغې څخه یې په امیر لاسلیك کړي. لکه هماغسې یې چې پخوا نیمه پېړۍ کې همدا کارونه په امیر دوست محمد خان، امیر محمد یعقوب خان او امیر عبدالرحمن خان باندې کړي وو. امیر حبیب الله خان د خپلې پاچاهۍ په ترڅ کې د وروستي ځل لپاره د انګرېزانو د غوښتنو په وړاندې یولنډ مقاومت وکړ او ویې ویل، چې د کوم نوي تړون د لاسلیك کولو کومه اړتیا نشته. خو دین لا هم کلك ولاړ و او ویې ویل: هغه تړون چې له امیر عبدالرحمن خان سره لاسلیك شوی و، هغه یو مقدماتي تړون و، نو ځکه یوه بل نوي تړون ته اړتیا شته، نو دا مهال یې د خپل نوي تړون لوستل پیل کړل، امیر هغه پرې نه ښود، چې تر پایه یې ولولي او ویې ویل، چې انګلیس دولت چې له افغانستان سره د دوستۍ څرګندونه کوي، نو بیاولې د هند له لارې افغانستان ته د اړتیا وړ وسلې د راوړلو په لاره کې ستونزې پیداکوي؟ دین په ناکامۍ سره د خبرو-اترو لړۍ پرېښوده. د همدغو خبرو-اترو په ترڅ کې یې د تل په شان د افغانستان په واکمن باندې برې ومووند. خو توپیر دا شو، چې مطلق العنان امیر ورته وویل، چې که کوم نوی تړون لاسلیك کېږي، نو د هغه مسوده به زه خپله جوړوم نه تاسې. خو دین اړتیا درلوده، چې همدغه لیکل شوی تړون ورڅخه وغواړي او کله، چې د امیر له خوا مسوده ورکړل شوه، هغه یې هند ته واستوله. د انګلیس دولت چې د کابل له دغه سوړ چلند څخه خبر شو، نو اړ شو، چې یا دامیر له خوا لیکل شوې مسوده ومني او یا هم د دواړو دولتونو تر منځ د اړیکو پرېښودو ته غاړه کېږدي. حال دا، چې په هغه وخت کې له انګرېزانو سره د افغانستان د اړیکوپرې کېدل د انګرېزانو په ګټه نه و، نو ځکه یې دین ته واك ورکړ، چې د امیر مسوده ومني یا یې ونه مني، خو کله چې دین ددغې مسودې د منلو په هکله امیر ته خبر ورکاوه، په حیرانتیا سره یې ولیدل، چې امیر وایي: سره له دې، چې د انګلستان دولت دغه مسوده ومنله، خو بیا به هم ځینې ټکي په هغې کې بدل کړم. دین په یوه وارخطا حالت کې شو، نو د نوي مسودې نوي بدل شوي ټکي یې هم ولوستل او پوه شو، چې هغې پخوانۍ مسودې سره توپیر لري.

Scanned by CamScanner

دين دوه کارونه کولای شول: يا به يې نوې مسوده منله او يا به يې هم د دواړو دولتونو د روابطو په برخه کولو سره افغانستان پرېښود. هغه لومړی حالت وماته، خو په دې شرط. چې د انګليس حکومت هغه تصويب کړي. دين خو په څرګنده دابښودله، چې دا ځل په دغې سياسي لوبه کې د افغانستان امير بريالی شوی او ده ماتې خوړلې ده، خو په حقيقت کې وضع سرچپه وه، دا ځل هم بری د انګرېزانو و دين په ډېره آسانۍ سره وکولای شول. چې د وخت د بدلونونو سره سره بيا هم د يوولسو کالو مخکې د ډيورنډ د تړون په زنځير باندې يو. بله کړۍ هم ور زياته کړي او په دې توګه يې امير لکه دده د نيکونو په شان د سياست په ډګر کې ناکام کړ.

دغه نوی تړون داسې و:

"بسم الله الرحمن الرحيم: اعليحضرت سراج الملته والدين امير حبيب الله خان د افغانستان د هغه د تابعه سيمو د خپلواك هېواد پاچا له يوې خوا او د هندوستان د پرتمين دولت د بهرنيو چارو وزير او دانګلستان د. شاهي محترم دولت استازي جناب سر لويس ويليام دين له بلې خوا:

اعليحضرت پورته ذکر شوی پاچا په دې توګه دا مني. چې د کورنيو او بهرنيو چارو په هکله د تړون جزيې او غټې غټې ټکي او هغه تړون، چې زما پلار والا حضرت ضياء الملته والدين نورالله مرقده دانګلستان له دولت سره لاسليك کړی و او عملورباندې شوی و، زه به هم هاغه منم او عمل به ورباندې کوم، د هغه مخالف کړنې به نه کېږي.

همدا رنګه جناب لويس ويليام دين په دې توګه مني. چې هماغه تړون او ژمنه چې انګلس دولت د کورنيو او بهرنيو چارو او نورو په هکله زما اعليحضرت سراج الملته والدين له مرحوم پلار ضياءالملت والدين سره لاسليك کړی و، زه هغو ټولو ته اعتبار وکوم او اوس يې د اعتبار وړ بولم او ليکم، چې د انګلستان دولت به هېڅکله برخلاف کوم عمل ونه کړي.

(د ۱۳۲۳هـ کال د محرم الحرام ۱۴مه، ۳ شنبه ورځ د ۱۹۰۵م کال د مارچ يوويشتمه) په کابل کې مهر او لاسليك شو:

امير حبيب الله خان- لوييس ويليام دين.

په دې توګه امير حبيب الله خان د ۱۹۰۵ کال د تړون په لاسليك کولو سره د امير عبدالرحمن خان د ژمنو ټول مسئوليت په غاړه واخيست او هېواد بيا هم هماغسې تړلی شوی او ناخپلواك پاتې شو.

په ۱۹۰۴م. کې اميرحبيب الله خان خپل زوی سردار عنايت الله خان معين السلطنه د يوه دوستانه سفر په خاطر هندوستان ته واستاوه، دا ځکه چې ده په خپله پخوا د انګليس د حکومت غوښتنه رد کړې وه. البته معين السلطنه ته هند ته د خپل سفر په ترڅ کې دانګليس له حکومت سره د خبروواك نه و ورکړل شوی او وروسته دانګليس او هندوستان د حکومت د ظواهرو او ښېګڼو له ليدلو څخه بېرته افغانستان ته راغی. د ۱۹۰۵م. کال له تړون څخه وروسته له انګليس دولت سره د امير چلند لږ ښه او دوسانه شو، تر څو چې په ۱۹۰۷ کې يې يو ځل بيا هند ته بلنه ورکړه. امير د ۱۹۰۷ د دسمبر په شپږمه له سل تنو درباريانو او مامورينو او افسرانو سره د خپل حضور عمله وو سره يو ځای. چې درې سوه عسکر ورسره

ود، له کابل څخه د هند خوا ته روان شو. دا مهال د هند وایسرا لارد منتو او دهند سپه سالار لارد کیچنر و. امیر له روانیدو څخه مخکې د انګلیس د بلنې په ځواب کې دغه بیت ویلی و:

کفر است در طریقت ما کینه داشتن
آئین ماست سینه چون آئینه داشتن

امیر حبیب الله خان په واقعیت کې په خپلې دغې وینا کې له انګلیس دولت سره صادق و. خو دغه یې هم ور اضافه کړی و، چې د هغه سفر به هند ته د یوه بل کوم ترون او سیاسي ژمنې او دولتي بندوبست لپاره نه، بلکې د نویو معلوماتو د ترلاسه کولو او د نویو اختراعاتو د کتلو لپاره وي. امیر د ۱۹۰۷ کال د جنوري په دوهمه د هند پولو ته ورسېد او د پېښور، لاهور، آګرې، کلکتې او بمبئ له لارې او بیا له سیند څخه په پورې وتلو سره کراچۍ ته ورسېد او بیا بېرته د پېښور له لارې افغانستان ته راستون شو. دغه سفر دوه میاشتې او پېنځه ورځې اوږد و، د دغه سفر په ترڅ کې د هند خلکو امیر حبیب الله خان ته تود هر کلی ووایه. د پېښور په جامعه جومات کې یې لمونځ وکړ. په لاهور کې یې د اسلام د ملاتړ د کالج د بنسټ ډبره کېښوده، د علیګړه مدرسه یې وکتله او ګوالیار ته هم ولاړ. د هند مسلمانان یې د غویانو له قرباني کولو څخه منع کړل (دا مهال د لوی اختر ورځې نږدې وې)، زیارتونو کې یې اعانه ورکړه او له شیعه مذهب علماوو سره یې یووالی څرګند کړ. ده هلته د خپل ځان په اړه مدحیه قصیدې ویل منع او رد کړل. د انګلیس دولت هم امیر حبیب الله خان ته په ډېر پرتتم سره او تود هر کلی وکړ. لارد منتو او لارد کیچنر د آګرې په دربار کې په ولاړ و پسو وروسته تر یوې رسمي کتنې څخه، څو خصوصي ملاقاتونه له امیر سره ترسره کړل. امیر د یوې کتنې په ترڅ کې وایسرا ته وویل:

زه ستاسې له دولت څخه د خپل شخصي درناوي هیله نه کوم، تاسې باید زمونږ د ملت او دولت عمومي هیئت ته درناوی وکړئ او د هغوی عزت وکړئ. د افغانستان پاچا د افغانستان د خلکو یو وګړی دی، د هغه شخصي دوستي یا دښمني تاسې ته هېڅ کومه ګټه یا زیان نه رسوي، که چېرې تاسې د صمیمیت له لارې د افغانستان د ملت او دولت مینه او مرسته ځانته واړوئ، نو بیا به د افغانستان د دولت له دوستي او یووالي څخه ډاډه اوسئ. انګرېزانو، چې دا حال ولید، له امیر سره یې کلك ملګرتوب پیل کړ او هغه یې ځانته نږدې کړ. ددغو حاضرینو په ډله کې درې انګرېزې ښځې هم وې. دا مهال په هند او افغانستان کې ګونګوسې پیل شوې، چې امیر حبیب الله خان د لارد کیچنر په هڅو سره په اګره کې د انګلیسي فرامیشن یوه لوژکي شامل شوی دی. البته تر دې مهال پورې فرامیشني موسساتو له اصلي مذهبي موسسو څخه بهر او د پټو سیاسي سازمانونو په بڼه کې یې ځان بدل کړی و د استعماري موخو لپاره یې کار کاوه. ددغو پټو سازمانونو غړیو به یو بل په ځانګړو نښو سره پېژندل او د خپلې ډلې، د رازونو د ساتنې لپاره یې لوړه کوله او د خپل دغه سازمان اوامرو ته یې د یو عسکر په شان اطاعت کاوه. دغو غړو ځانونه (د نرۍ زامن) بلل او ځان ته یې (د خپلواکي. ورورۍ او برابرۍ ساتونکي او له ټولو مذهبي او ملي تعصباتو څخه پاك خلك) ویل په واقعیت کې یې د انګلیسي ښاغلي د ښکېلاك لاندې هېوادونو سکه وروڼه بلل. د انګلیس فرایشني موسسات په ټوله آسیا او افریقا کې موجود وو (له

نیکه مرغه په افغانستان کې نه وو) چې د ټولو مرکز په لندن کې وو. حال دا چې اتلسمه پېړۍ په ټوله اروپا او امریکا کې د فرامیشن د پراختیا پېړۍ شمېرل کېده.

په هر حال! امیر حبیب الله خان له هندوستان څخه راستون شو او د انګلیس دوستۍ ته کلك او وفادار پاتې شو، آن دا، چې د افغانستان او د هند د انګلیسي حکومت تر منځ یې د رسمي لیکونو لپاره ځانګړي کاغذونه جوړول، چې د پاسه به وربانديې یوه انګلیسي خولۍ او د خولۍ تر څنګ به یو تورپل او یو کریچ په عمودي بڼه او تر خولۍ لاندې به په افقي بڼه یو پټاره په طلایي رنګ انځورېدل. په دغه پټاره به د امیر افغانستان نوم لیکل شوی و. حال دا چې د انګرېز هماغه پخواني سیاست د یوه وېښه په اندازه بدلون ونه موند او د افغانستان محکومیت، د افغانستان انزوا ته شړل او د انګلیسانو په لاس یې د کنترول سیاست دوام درلود. له دې پرته په ټولنیزو برخو، اقتصادي صنعتي او فرهنګي برخو کې د افغانستان شا ته غورځول او د ملي وحدت د زیانمن کولو سیاست یې هم لکه د پخوا په شان دوام درلود او همدغه ټکی د انګلیس د دولت نصب العین وو.

## د ۱۹۰۷ کال تړون

په دغه تړون کې، چې د روسیې په دربار کې، د انګلیس د لوی سفیر سرارتر نیکلس او د روسیې د بهرنیو چارووزیر الکساندر ازوسکي تر منځ لاسلیك شو (د سپتمبر په ۲۳مه مبادله او د سپتمبر په ۲۶مه نېټه په جرایدو کې نشر شو.)

ایران یې په دریو برخو (د روس د واك برخه، د انګلیس د واك برخه او ناپېیلې برخه) باندې ووېش هسې په نوم د ایران کومه خپلواکي، چې پاتې وه، هغه هم له منځه ولاړه، خو په دغه تړون کې د افغانستان په هکله داسې لیکل شوي وو:

"لومړی) د لویې بریتانیا د پاچا د اعلیحضرت حکومت څرګندوي، چې هېڅ داسې کومه اراده نه لري، چې د افغانستان وضعیت بدلون ومومي، له دې پرته د بریتانیا حکومت دا ژمنه کوي، چې په افغانستان کې د امن او امان په موخه به خپل نفوذ څخه کار اخلي، نه به پرېږدي، چې په خپله یا د افغانستان له خوا د روسیې په وړاندې ګوابنونه رامنځته شي. د روسیې حکومت له خپله لوري ژمنه کوي، چې دغه هېواد به د خپل نفوذ له ساحې څخه بهر سیمه ګڼي او له افغانستان سره اړیکې به د لویې بریتانیا د حکومت په واسطه ترسره کېږي. همدا رنګه روس ژمنه کوي، چې خپل استازي به افغانستان ته نه استوي.

دوهم) د لویې بریتانیا حکومت پخوا د خپلې ۱۹۰۵ کال د مارچ د ۲۱مې نېټې په تړون کې په کابل کې ویلي وو، چې له امیرعبدالرحمن خان سره ترسره شوي تړونونه به مني او په افغانستان باندې د تیري او د هغه په کورنیو چارو کې د لاسوهنې نیت نه لري. اوس هم ژمنه کوي، چې د پورتني تړون بر خلاف به د افغانستان د کومې برخې د نیولو په اړه هېڅ اقدام نه کوي او په کورنیو چارو کې به یې له لاسوهنې څخه ډډه کوي، په دې شرط چې د افغانستان امیر خپل هغه مسئولیت، چې د دغه تړون له مخې یې د افغانستان وړاندې

ځای کړي.

دریم) افغاني او روسي مامورین، چې په سرحدونو یا سرحدي ولایتونو کې ددې کار لپاره گومارل شوي دي، ددې اجازه لري، چې د سیمه ییزو ناسیاسي ستونزو د حل لپاره به مخامخ یو بل سره لیده کاته کوي.

څلورم) د روسیې او بریتانیا حکومتونه په افغانستان کې د خپلو سوداګریزو چارو د مساوات د اصل په هکله عقیده څرګندوي او موافقه کوي، چې هغه آسانتیاوې، چې په دې برخو کې شته یا وروسته تر دې به ترلاسه شي د هند او بریتانیا سوداګرو او سوداګریزو چارو لپاره او همدا رنګه په مساوي ډول سره به روسیې او د روسیې سوداګرو ته هم چمتو شي او که چېرې د سوداګرۍ پرمختیا اړینه وبولي، چې سوداګریز استازي مقرر شي دواړه لوري به د لازمو چارو د ترسره کولو په خاطر موافقې ته ورسېږي، البته په دې ترخ کې به د امیر حکومتي حق په لازمه توګه د درناوي وړ وي.

پنځم) ددغو پورتنیو توکو ترسره کول به هغه مهال عملي شي، چې د لویې بریتانیا حکومت د امیر موافقه په دې هکله د روسیې دولت ته ورسوي."

خو کله چې د انګلیس حکومت دغه تړون د امیر د خبرتیا لپاره ور ورساوه، امیر د موافقې له څرګندولو څخه ډډه وکړه او انګرېزانو هم ځان غلی کړ، نور نو له دې زیات د امیر د موافقې اړتیا ونه لیدل شوه. د روسیې حکومت انګلیسانو ته وویل، چې دغه تړون د افغانسان د پاچا له موافقې پرته د اجرا وړ بولي.

## د سیستان پېښه

د سیستان ولایت، چې د تاریخ او اسطورو له مخې د لرغوني او نوي افغانستان یو تاریخي ولایت و، په نولسمه پېړۍ کې د روس او انګلیس د ښکېلاک د پام وړ وګرځېد، دا ځکه چې سیستان د افغانستان، ایران، بلوچستان او هندوستان د لارو پر سر پروت و. په ۱۸۲۲م. کال کې د ایران حکومت په سیستان تیری وکړ او افغانستان له ایران سره شخړې ته اړ شو. د انګلیس دولت چې د پاریس (د ایران اوانګلیس) تر منځ په ۱۸۵۷ کال کې لاسلیک شوی سند) د تړون له مخې ځان د ایران او افغانستان تر منځ په پېښو شویو شخړو کې قاضي (منځګړی او حکم) باله، نو دا مهال یې ځان را وړاندې کړ او په ۱۸۷۲ کال کې یې خپل د حکمیت هیئت (ګولد سمیت او پالك) پېښې ته ولېږل. دا مهال د ایران دولت د انګلیس د سیاست تر اغېزې لاندې و او ددغه هیئت صدراعظم سپه سالار مرزا حسین خان په سیده توګه د انګرېزانو تالي ختي وو، په داسې حال کې چې د افغانستان پاچا امیر شیرعلي خان د انګرېزي ښکېلاك د سیاست او موخو باالمقابل نقطه کې و، د افغانستان استازي د هېواد صدراعظم سیدنورمحمدشاه خان او د ایران استازي مرزا معصوم خان او وروسته بیا مرزا ملکم خان و. د انګلیس د حکمیت (منځګړی هیئت وروسته تر ډېرو هلو-ځلو څخه د ۱۸۷۲ کال د اګست په ۱۷مه خپل نظر د ګولد سمیت په لاس په دې توګه صادر کړ:

"د ۱۰۸ کلونو په ترخ کې پرته له شکه. چې تل په افغانستان کې په تېوله مانا یو خپلواك دولت موجود

و او سیستان یې یوه برخه و، ځینې وخت به په کندهار پورې او کله به هم په هرات پورې تړلې وو... اوس د سیستان پخواني حدود له ډېرې مودې راهیسې له منځه تللي دي، نن په عملي توګه سیستان فقط د هلمند او هامون تر منځ یوه ټاپو وزمه ده. سیستان په دوو اصلي او فرعي برخو باندې ویشل کېدای شي. اصلي برخه یې له شمال، لویدیځ او جنوب څخه په هامون پورې محدود و او ختیځ ته یې د هلمند د سیند یو مهم مرستیال و. فرعي برخه یې هغه ده، چې دهلمند سیند ښی غاړې ته پروت دی، چې اوږدوالی یې ١٢٠ میله ده، چې د سیستان دښته هم ورسره یو ځای کېږي.

**لنډیز:** ١- ډېر پخوا یو مهال سیستان د ایران یوه برخه وه. د صفویانو تر دورې پورې. د احمدشاه ابدالي له مهال څخه د درانیانو د دولت یوه برخه شوه.

٢- له ایران سره د سیستان تاریخي او لرغونې اړیکې. د ایران له لورې د هغه د نیولو یو منطقي دلیل نشي کېدای.

٣-د نادر له دورې څخه را وروسته ایران د سیستان په چارو کې هېڅ ډول لاس نه درلود.

۴-له جغرافیاوي پلوه په څرګند ډول سره سیستان د افغانستان یوه برخه ده.

۵-د سیستان په اړه افغانستان په خپله ادعا کې د ایران په پرتله څو ځله پورته والی لري.

٦- سیستان نن ورځ لکه د پخوا په شان یو جلا هېواد نه دی، نو په کار ده چې د دواړو خواوو دعواته پاملرنه وشي او د دواړو لوریو نیول شوې سیمې وټاکل شي. زما په نظر په کار داده، چې ځمکنی ویش وشي او په دې توګه د سیستان آباده برخه چې له دریو خواوو څخه هامون پورې او له بلې خوا د هلمند په سیند پورې ایساره ده او د یوې ټاپو وزمې بڼه لري او څه ناڅه وګړي هم پکې مېشت دي او دغه وګړي له بېلا بېلو قومونو څخه جوړ دي، باید هغه د ایران برخه وبلل شي، خو هغه برخه چې ډېر لږ وګړي پکې مېشت دي او دا د چخانسور او هلمند له سیند څخه پورته غاړې دي او د سیستان دښته هم پکې راځي. د ایران برخه نشي شمېرل کېدای. د نادعلي لورې او د هلمند د سیند دوه غاړې د کوهک تر بند پورې باید افغانستان ته پرېښودل شي. په دې توګه د سیستان آباده برخه ایران ته ورکړل شوه، خو سید نورمحمدشاه خان اعتراض وکړ، خو څه پایله ترلاسه نه شوه، د انګرېزانو دغه منځګړیتوب (حکمیت) د افغانستان د دولت د مرور کېدو لامل شوه، چې وروسته بیا د افغان او انګلیس د دوهم جنګ یو عامل هم همدا وو.

په هر حال، د سیستان پېښه په همدې ځای پای ته ونه رسېده، بلکې لا نوره هم اوږده شوه. په ١٨٩٢م کال کې د هلمند سیند تګلوري، چې د ناد علي له اړخ څخه تیرېد او مخامخ د شمال لورې ته تله، بدلون وموند. نوې تګلاره یې د پریان په لورې شوه او د ایران او افغانستان تر منځ د اوبو په ویش هم اختلاف راغی. داخل بیا د ایران د پاچا په غوښتنه او د افغانستان د پاچا په موافقه انګلیس هیئت د منځګړي په توګه راوغوښتل شو دا ځل د انګلیسي هیئت مشر "سرهنري مکمهان" و. نوموړی هماغه سړی دی، چې په ٩٢- ١٨٩۴ کې یې له محمدعمر خان نورزي سره یو ځای (چې د افغانستان استازی و) د افغانستان او بلوچستان پولې د ګومل له غاړو څخه تر ملك سیاه غره پورې د ٨٠٠ میلو په واټن

وټاکلې. مکمهان د ۱۹۰۳ کال په جون کې سیستان ته راورسېد او وروسته تر دوه کاله او دریو میاشتو څخه یې د ځمکې له مساحت کولو وروسته داسې اعلان وکړ: د سیستان د ځمکې اوسنی مساحت ۷۰۰۲ مربع میله دی. چې ۲۵۰۰۰ تنه وګړي پکې، ژوند کوي، چې دې کې یې ۴۱۵۲ مربع میله ځمکه د افغانستان برخه پاتې کېږي، نورې ۲۸۴۷ مربع میله یې ایران ته ورکول کېږي. په اوسني وخت کې هلمند درې څانګې شوې دي: لومړي یې د سیستان سیند دی، چې د سیستان له بند څخه جلا شوی او د ایران اړوند سیستان خړوبوي، دوهم یې په خپله د هلمند ستر سیند دی او درېیم یې د نادعلي ویاله ده، چې پخوا د هیرمند اصلي تګلوری و. د ایران او افغانستان شخړه د هلمند د اوسني تګلوري او پخواني تګلوري په سر وه.

همدا رنګه د ایران د دولت د اوبخور د اندازې د ویش، چې اصلاً دا د افغانستان یو خپل سیند دی او داخلي اوبه یې بلل کېږي، حکم (منځګړی) هیئت په دغه وروستي موضوع کې هم خپله فیصله صادره کړه او د دواړو دولتونو استازیو ته یې تسلیم کړه، تر څو یې خپلو دولتونو ته ورسوي. په اصل کې آن د ګولد سمیت له دوران (۱۸۷۲) څخه ایران ته حق ورکړل شوی و، چې د کوز هلمند په اوبو کې تر ۵۰ کیلومترو پورې شریک شي. سمدستي د هلمند د سیند پخوانی تګلاره د ایران او افغانستان د نوې پولې په توګه وپېژندله او د ۱۹۰۴م. کال په سپتمبر کې یې ددغه قضاوت په هکله د دواړو خواوو موافقه ترلاسه کړه او په پای کې د حکمیت پرېکړه په لاندې توګه صادره شوه:

د ۱۹۰۵ د اپریل دلسمې یا د ۱۳۲۳هـ کال د صفرې د میاشتې د څلورمې نېټې د کلنل مکمهان د حکمیت پرېکړه:

## سریزه

لومړی فقره: د جنرال سرفریدریک ګولد سمیت فرضیه د افغانستان او ایران تر منځ د حکم په توګه داسې وه، چې د ایران او افغانستان د حقونو مسئله به د سیستان د اوبو په هکله حل و فصل شي. معزي الیه د خپل حکمیت قرارداد په ۱۸۷۲ کال کې د دواړو فقرو په هکله د خپل حکمیت پرېکړه څرګنده کړه. دغه پرېکړه د هندوستان د قیصر او د انګلستان د اعلیضحرت قوي شوکت پاچا د بهرنیو چارو جناب مستطاب اجل وزیر صاحب له خوا لاسلیک شوې، د ایران او افغانستان د دولتونو له خوا په ۱۸۷۳ کې ومنل شوه.

دوهمه فقره: ددغه تړون پر مهال د هیرمند سیند په سیستان کې یوه دوه څانګې شوې لویه برخه یعنې د سیستان سیند درلوده، چې د سره یو ځای کېدو برخه یې ددې لپاره په نښه شوه، چې کافي اندازه اوبه راوګرځول شي او دغه سیند ته ولاړې شي او ورباندې یو بند جوړ شوی و، چې هغه ته یې بند کوهک یا بند سیستان وایه. د هیرمند سیند له هغه ځایه لر مخکې ته او بیا نادعلي ته ورتیرېده او د اوسني تګلوري په برید، چې اوس ورته (سیخ سر) وایي د هامون نیزارونو ته ننوت. په ۱۸۹۲ کې یو لوی سېلاو ددې لامل شو، چې دغه سیند ځانته یو بل نوی تګلوری غوره کړي، چې دغه نوې تګلاره د هغې

Scanned by CamScanner

د پخوانۍ تګلارې څخه (شاه ګل) سیمې ته نږدې جلا کېده او دغه نوې تګلاره اوس د پریان د سیند په نوم یادېږي.

دریمه فقره: هغه بدلونونه، چې د لوی سیند او د نورو ویالو په تګلوري کې راغلي دي له ۱۸۷۲ کال څخه راوروسته یې د افغان او ایران تر منځ د اوبو په سر بېلا بېلې شخړې را پیدا کړې دي. هغه څېړنې، چې ما وکړې ور څخه ښکاري، چې څه موده وړاندې د دواړو لوریو اوچتو مامورینو یعنې د سیستان او چخانسور چارواکو تل دغه شخړې په دوستانه توګه خپل منځ کې هوارولې. دغه مامورین د خپلو اړتیا وړ اوبو د اندازې په هکله ډېر ښه پوهېدل، ډېر ښه ډول باندې یې د دواړو خواوو شخړې د دواړو خواوو په خوښه په ښه ډول هوار کړې دي.

څلورمه فقره: ارمان دی، چې په دې څو تیرو کلونو کې یا د سیند د لویې برخې د تګلورې د بدلون له امله یا له دې لامله، چې د دواړو خواوو د خلکو تر منځ تفرقه اچول شوې ده، هر څه چې وي، خو دا څرګنده شوه، چې د اوبو په ویش پورې د اړوندو ستونزو هوارول اوس نشي کېدای. د ۱۹۰۰ او ۱۹۰۲ کلونو تر منځ د اوبو په سر ستونزې را پیدا شوې، چې په پیل کې کوچنۍ او ډېرې مهمې نه وې، خو د اړیکو د خرابوالي او تفرقې له لامله د دواړو لوریو تر منځ ناوړه پوهه پیدا شوه او یو پرېل ګومانونه بد شول. تر څو چې په پای کې په ۱۹۰۳ کال کې د هیرمند د سیند د اوبو د ډېر لګښت له لامله او د یو شمېر نورو شخړو له لامله خبره یوې نازکې نقطې ته ورسېده، نو ځکه د انګلیس د دولت اوسنی حکمیت ته مراجعه وشوه.

پینځمه فقره: هغه شرطونه، چې د هغو په ترڅ کې د ایران او افغانستان دولتونو دغه حکمیت منلی دا دی، چې د دغه حکمیت پرېکړه به د جنرال سرفریدریک ګولد سمیت له موخې سره برابروي.

شپږمه فقره: نو ځکه د پرېکړې په جوړولو کې زه همدې شرط پورې تړلی یم.

اوومه فقره: د جنرال فریدریک ګولد سمیت قرارداد یا پرېکړه د اوبو د موضوع په هکله په دې توګه و. په دې باندې پوهېدل په کار دي، چې د دواړو لوریو څخه یو یې باید داسې څه جوړ نه کړي، چې د هغې له ودانورو څخه موخه دا وي، چې د هغې له لامله د هغو اوبو په اندازه کې مداخله وشي کومې، چې د دواړو لوریو کرنې ته په کار وي نو ځکه د هندوستان قیصر او د انګلستان د اعلیحضرت قوي شوکت پاچا د بهرنیو چارو جناب مستطاب اجل وزیر د دغه تړون یا قرارداد د لاسلیک کوونکي په توګه وروسته تر دې، چې په ۱۸۷۲ کې یې له جنرال سرفریدریک ګولد سمیت سره مشوره وکړه داسې پرېکړه وکړه، چې درج شوې فقره باید، چې د موجوده ویالو یا هم د پخوانیو وچو شویو او پرېښودل شویو ویالو، په هکله وي کومې، چې د هغو د بېرته جوړولو اړتیا وي او دا موضوع باید روښانه شي او د نویو ویالو د کیندلو د منع کولو په هکله هم نه ده، خو په دې شرط، چې د دواړو لوریو له اړتیاوو اوبو څخه څه کمې نشي.

اتمه فقره: پورتنۍ پرېکړه څرګنده ده، چې توضیح کولو ته یې کومه اړتیا نشته، خو یو ټکی په ځانګړې توګه واضح کول غواړې او هغه دا، چې د پرېکړې حکم دا دی، چې ایران حق لري چې د خپلې کرنې د

خړوبولو لپاره، چې څومره اوبو ته ضرورت لري، نو د دغو اړتیا وړ اوبو اندازه باید وښودل شي.

نهمه فقره: د کره اندازه کولو او کتنو په پایله کې او د دغه کمیسیون د پوره څېړنې په پای کې په سیستان کې لاندیني ټکي په ښکاره ډول کره واضح شول.

الف) سیستان د اوبو د کمښت له لامله نه، بلکې زیاتره وخت د اوبو د زیاتوالي له لامله زیانمن کېږي. د هغه زیان په پرتله چې د کرنې د خړوبولو لپاره د اړتیا زیان ورته رسېږي، تر هغې څخه هغه زیان زیات دی، چې ځمکې او حاصلات کال په کال د سیلاوونو له لامله زیانمن کېږي.

ب) په سیستان کې د اوبو د کفایت ستونزه ډېر لږ یو نیم وخت په غیر عادي کلونو کې رابرسیره شوې ده، چې په دغه ډول کلونو کې د افغانستان یا ایران خاورې څه نا څه زیانمنې شوې. له دې پرته د اوبو مسئله یواځې هغه مهال ډېر اهمیت مومي، چې د پسرلني کښت وخت وي او اوبه تر هر وخت څخه لږ وي، یعنې د منې د تلې له میاشتې څخه تر نوروز پورې. خو سره له دې، هم دا څرګنده شوه، چې په تېرو ۳۵ کلونو کې یواځې په درې کالو کې په همدغه میاشتو کې اوبه لږ شوې دي. سره له دې ټولو په کار دي، چې تر هر څه مخکې په اوړي کې د کرنې د موسم په وخت د اوبو اړتیا ته پاملرنه وشي، دا ځکه چې داسې یو قرارداد، چې په هغه کې نظر یوه فصل ته د اوبو د اړتیا په هکله وي، هغه د نور ټول کال لپاره هم مناسب دي.

ج) وروسته تر پوره کتنو څخه څرګنده شوه، چې د هیرمند د سیند د عادي اوبو اندازه د منې او نوروز تر منځ په کره توګه ویل کېدای شي، چې د هغو اوبو دربیمه برخه ده، چې اوس د سیستان لپاره د کمال خان بند ته ورځي، نو دغه اوبه د ایران خوا ته د ځمکو خړوبولو لپاره ښېخي بس دي، آن دا چې که راتلونکي یې کرنه نوره هم پراخه شي ورته بس دی. نورې پاتې اوبه د افغانستان د اړتیا لپاره کفایت کوي.

لسمه فقره: همدا رنګه زه د خپل حکمیت پرېکړه داسې څرګندوم:

## قرارداد

**لومړۍ څېرکۍ:** له دواړو لوریو څخه هېڅ یو یې باید د کومې ویالې یا بند په جوړولو لاس پورې نه کړي، چې د هغه په واسطه دواړو خواوو ته د اړتیا وړ اوبو کې کوم کمښت راشي، خو دواړه لوري حق لري، چې په خپلو خاورو کې دننه موجوده ویالې ولري او پخوانې وچې شوې یا نړېدلې ویالې هم جارې کړي او هم د هیرمند له سیند څخه نوې ویالې وکاږي، په دې شرط چې د هغې اندازې اوبو په مقدار کې، چې دواړه لوري ورته اړتیا لري کمښت رانشي.

**دوهم څېرکۍ:** هغومره اوبه، چې د ایران د ځمکو د خړوبولو لپاره په کار دي، چې د کوهک له بند څخه یا له هغه څخه ښکته یې اخلي، د هغو اوبو دربیمه برخه ده د هیرمند له سیند څخه سستیان ته ورځي، هغه سیستان چې د جنرال سرفریدریک ګولد سمیت قرارداد د هغه په هکله دی او دا ټولې هغه ځمکې دي، چې د هیرمند دواړو خواوو ته د کمال خان د بند او هغه څخه ښکته دي.

**دریم ټکی:** همداسې ایران حق لري، چې د هیرمند د ټولو اوبو دریمه برخه ترلاسه کړي او هغه باید په هغه نقطه کې ګډه وشمېرل شي، چې له هغه ځایه ځانته د هیرمند له سیند څخه اوبه واخلي خپلو کرنیزو ځمکو ته چې د کمال خان د بند یا له هغه څخه ښکته له دې یا هغې غاړې څخه، چې واقع دي.

**څلورم ټکی:** په افغانستان کې د سیستان ځمکو ته د اوبو اړولو په موخه د بندونو او یا ویالو جوړول له مخکې چې وویل شول باید ددې له مخې وشي، چې د هیرمند د سیند د ټولو اوبو کم له کمه دریمه برخه د ایران استفادې لپاره د کوهک بند ته ورسېږي.

**پنځم ټکی:** د دواړو لوریو د ډاډمنتیا په خاطر، چې په هدغه پرېکړه به سم عمل کېږي او همدارنګه نورو نویو مرجاعاتو ته د اړتیا د له منځه وړلو په خاطر د انګلیس یوه ځانګړي صاحب منصب ته، چې د ویالو او اوبو تکړه انجنیر به وي او د لوړ رتبه مامورینو، چې دا د انګلیس دولت له خوا مقررېږي. دوی به په سیستان کې د انګلیس د دولت د قونسلګرۍ د غړو په توګه په سیستان کې پاتې وي. دغه صاحب منصب به دا واك ولري، چې که چېرې له دواړو لوریو څخه یو یې غوښتنه ولري د اوبو په اړه پېښه شوې شخړه باید حل شي.نو دغه صاحب منصب به خپل نظر ورکوي او کله. چې ضرورت پېښ شو خان به پر حقیقت پوهوي او هغه دولت به هم خبروي، چې مسئله ورپورې تړلې وي اودا واك هم لري. چې ددغه یا هغه لوري پام د خطر مهمو ټکیو ته راواړوي او د طبیعي پېښو یا د بند او ویالو د جوړولو له لامله که د کوم زیان اټکل وشي هم دغه صاحب منصب اختیار لري او هغه به د خپلو مسئولیتونو له اجرا څخه بریالی راووځي. دواړه لوري به پرېږدي، چې پرته له کوم خنډ څخه آزادانه دهیرمند سیند یا د هغه ځانګو ته لاسرسی ولري.

**شپږم ټکی:** د کوهك د بند روغ پاتې کېدل او د هغه ساتنه د ایران د ځمکو لپاره په سیستان کې ډېر اهمیت لري، هیڅ له امکان څخه لرې نه ده، چې دغه بند کې د خړې د کېناستو له لامله به له هغه څخه کوز بل بند جوړ شي او بند به له دې ځایه ولېږدول شي ، که چېرې داسې اړتیا پېښه شوه افغانستان باید ایران پرېږدي، چې ددغه بندي ځای بدل کړي او ایران دا حق منظوروي ، چې هغه ویاله به چې له دغه نوې جوړ شوی بند څخه تر سیستان سیند پورې په کار وي ، هغه به د افغانستان په خاوره کې کیني، همداسې هم که چېر ې اړتیا پېښه شي، چې افغانستان موجوده شاه ګل بند چې د پریان د ویالې په خاطر یې جوړ کړی دی ولېږدوي. لرې یې کوز جوړ کړي، نو ایران به هم لکه د مخکې په شان افغانستان پرېږدي، چې د ایران په خاوره کې د نادعلي تر سیمې یوه ویاله وکیني.

**اوم ټکی:** دا ټکی به په پام کې وي، چې د افغانستان هغې جغرافیایي وضع، چې دهیرمند د سیند په اوبو کې ایران ته حقوق ورکړي دي او افغانستان طبعاً د پورتني هیرمند د ملکیت په حیث ورکړي، د جنرال سرفریدریک ګولد سمیت د قرارداد له مخې ایران ته په پورتني ښودل شوي اندازه قیدشوي دي، نو پایله داده، چې ایران دا حق نه لري چې هغه د اوبو حق چې په دې توګه ترلاسه کوي پرته د افغانستان له خوښې څخه هغه بل دولت ته ورکړي.

**اتم ټکی:** نشم کولای دغه قرارداد پرته د دواړو دولتونو له تحذیر څخه یو ټکی هم ختم کړم، له

تاریخي کتنو څخه داسې ښکاري، چې په سیستان کې دهیرمند سیند تل خپل تګلوری بدل کړی دی او دغه بدلونونو له لامله دغه سیند په نویو تګلورو تللی دی او هغه پخوانی تولې ویالې یې اوس وچې شوي دي، نوممکن دغه ډول بدلونونه بیا په راتلونکي کې پېښ شي. نو د نویو ویالو د کیندلو په مهال او د هغو پخوانیو ویالو په پراخولو سره چې له هیرمند څخه جلا شوي دي، د هغو په هکله باید ډېر دقت وشي دا ځکه که چېرې خامخا دغه کار پرته له لازم احتیاط څخه وشي. ممکن سیندپه دغو نقاطو کې دواړو هېوادو ته زیات زیان واړوي او ددغه ډول خطراتو اټکل دواړو هېوادو هم افغانستان او هم ایران ته یو شان دي. د مګهمان لاسلیك.

په دې توګه له ۱۸۷۲ څخه تر ۱۹۰۵ پورې د انګلیس د دولت په حکمیت سره د هلمند د سیند دریمه برخه اوبه او د سیستان له دریېمې برخې زیاتې ځمکې له افغانستان څخه جلا او ایران ته ورکړل شوې، نو د دواړو هېوادونو تر منځ د شخړې ریښه وچه نشوه او ځینې ځینې وختونه د ایران د دولت له خوا یوه پخوانی حل شوې خبره د نوې شخړې په توګه سر راپورته کوي، د بېلګې په توګه په ۱۹۳۸م. کال کې یوه نوې شخړه وزېږېده او د ایران استازي ښاغلي باقر کاظمي په کابل کې د افغانستان د بهرنیو چارو له وزارت سره په خبروبوخت شو. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په ډېره دریادلی (بخښونکي او سخاوتمندان پراخ لاس) سره د ایران له لوی سفیر سره یوه شپاړس توکیزه پرېکړه داسې لاسلیك کړه:

دافغانستان د شاهي دولت او د ایران د شهنشاهي دولت تر منځ د هلمند د اوبو د ویش قرارداد:

له دې لامله چې د ایران شهنشاهي دولت او د افغانستان شاهي دولت دواړو یو شانته غوښتل. چې دهیرمند د اوبو د ویش په هکله د دواړو هېوادونو تر منځ یو عادلانه(؟) قرارداد وشي، نو ددې موخې لپاره به یو ځانګړی قرارداد لاسلیك شي. نو ځکه یې خپل واکمن استازي په لاندې توګه غوره کړي دي. دایران شاهنشاهي دولت له لوري په کابل کې د ایران شهنشاهي دولت لوی سفیر باقرکاظمي. د افغانستان د شاهي دولت له لوري د شاهي د بهرنیو چارو وزیر عالیقدر جلالتماب علي محمدخان. دغو استازیو د خپلو اختیار لیکونو له تبادلې څخه وروسته، چې د صحت او اعتبار وړ وو، په لاندنیو ټکیو موافقه وکړه:

**لومړی توک:** د ایران او افغانستان دولتین موافقه کوي، چې هر کال هغه اندازه هیرمند اوبه چې د کمال خان بند ته رسېږي، د کمال له بند څخه وروسته دې د ایران او افغانستان تر منځ سم نیمایي وویشل شي.(؟!)

**دوهم توک:** ددې په خاطر چې د چها برجیك له کلي څخه تر کمال خان بند پورې له هغو اوبو څخه زیاتې وندلګېږي کومې، چې همدا اوس دي. د افغانستان دولت ژمنه کوي. چې په دغومره واټن کې به پرته له هغو ویالو څخه چې همدا اوس شته. بل به هېڅ کومه ویاله نه کیني او نه به کومه ویاله رغوي.

**دریم توک:** د دواړو لوریو له خوا اجازه لرونکي مامورین او میراوان به هر کال د منې په موسم کې د کمال خان له بند څخه تر سیخ سر پورې هغه اوبه اندازه کړي دواړه لوري یې له هیرمند څخه د تللو ویالو په واسطه ترلاسه کوي او دا به د دواړو هېوادو په برخه کې شمېرې، په داسې توګه چې دغه دواړه برخې

Scanned by CamScanner

به مساوي اندازه وي، دوی به د دواړو لوریو د ویالو نومونه او په هغو کې د اوبو اندازه یوبل ته وایي، که چېرې وروسته تر دې څخه په پورتنیو ذکر شویو ټکیو کې کوم بدلون راځي یا وغوښتل شي، چې یوه کې څه زیاتوالی او په ځای یې بل ځای کموالی راشي، دا به هم یو بل ته وایي.

**څلورم توک:** د دواړو لوریو د سیندونو، ویالو او د اوبو د اندازې د ټاکلو لپاره لازم ادارات، وسایل او اړتیاوې به د افغانستان او ایران فني مامورین د خپلو دولتونو په نیمایي نیمایي لګښت چمتو او د کمال خان له بند څخه کوز به یې لازمو ځایونو کې لګوي او د اړتیا پر مهال به د سیند تګلوری هم له کوهك بند څخه تر سیخ سر پورې تنظیموي.

**پینځم توک:** ددې لپاره، چې د کمال خان له بند څخه د هیرمند له سیند څخه د اوبو ویش او تنظیم په عادلانه توګه وشي او همدا ددغه قرارداد موخه هم ده، نو باید د دواړو لوریو فني مامورین په هغو ځایونو کې، چې لازمه وبولي، په خپلو خاورو کې به دایمي مقسم جوړوي او ددغو مقسم جوړولو لګښت به یو بل سره د توافق له حاصلولو وروسته د هغې اندازې په اندول برابر، چې دواړه لوري یې ترلاسه کوي په متناسبه ډول په غاړه اخلي.

**شپږم توک:** د پخو او دایمي بندونو تر جوړولو پورې به د پخوا په شان د زغه د ونو د لرګیو بندونه اچول کېږي، که چېرې دواړه لوري د بند جوړولو ته د زغه لرګي ته اړتیا ولري نو د بیې په ورکولو سره به یو بل باندې دغه لرګي پلوري.

**اووم توک:** له دې لامله، چې د کمال خان له بند څخه د ایستل شویو ویالو پیل د هیرمند له اوبو څخه دی او بیا دغه ویالې د دواړو هېوادونو ځمکو ته ځي او ددغو ویالو غاړې خامه یا د خاورې دي، نو ددې لپاره چې دواړو لوریو ته کوم زیان پېښ نه شي. دواړه دولتونه ژمنه کوي، چې ددغه ترون د لاسلیك کېدو له نېټې څخه به تر څلورو کالو پورې د ویالو غاړې په اجر او چونې باندې په ښه ډول جوړوي.

**اتم توک:** دواړه دولتونه ژمنه کوي، چې د کمال خان له بند څخه نیولې، د دوست محمد خان تر بند پورې او تر سیخ سر پورې چې وروستی ویش دی، په دغو سیمو کې به هېڅ ډول عملیات او اقدامات نه ترسره کېږي، چې د هغو له لامله دواړو لوریو ته کوم زیان پېښ شي.

**نهم توک:** د ایران او افغانستان دولتونه دواړه موافقه کوي، چې هغه مامورین او میراوان چې په دغه قرارداد کې د راغلیو ټکیو داجرا لپاره ګومارل شوي دي او همدا رنګه د کوهك او سیخ سر تر منځ جوړو شویو ویالو او نهرونو د تنظیم او پاکولو لپاره ګومارل شوې عملې ته که چېرې ددغو چارو د اجرا لپاره یو د بل خاورې ته د ننوتلو اړتیا پېښه شي، نو بې وسلې به په اجازې سره یو د بل خاورې ته ننوځي.

**تبصره:** هغه مواد او د کار وسایل، چې دغه مامورین او عمله به یې د درج شویو چارو د مخ پر بیولو لپاره ځان سره لري یا هم له سرحد څخه د تیرېدو پر مهال کې څه نورې اړتیا ځان سره لېږدوي، هغه له ګمرکي حقونو څخه معاف دي.

Scanned by CamScanner

**لسم توک:** که چېرې د هیرمند سیند د کمال خان په بند کوم بل نوی تګلوري ته اوړي، د لومړي توک په دلیل سره به په یوه بله سیمه کې چې په چخانسور کې کمال خان د بند په توګه وي . د دواړو دولتونو په موافقه اجرا او ویشل کېږي. لکه هغسې چې د کمال خان له بند څخه ښکته کوم نوي تګلوري ته واوړي یا هم اوسنی تګلوري دومره زیات ژور شي، چې د سیستان ځمکې ورڅخه خړوبې نشي، نو دولتونه موافقه کوي، چې په داسې حالت کې به د سیستان د ځمکو د خړوبولو لپاره به له هغې برخې څخه، چې په اول توک کې ښودل شوي دي لازمه اندازه اوبه د دواړو لوریو په موافقه د یوه بل جلا قرارداد سره سم ورکول کېږي.

**یوولسم توک:** ددغه قرارداد د مقرراتو په اجرا کې هر ډول اختلاف پېښېدل، چې د هغه حل د میراو یا ګومارل شویو مامورینو له وس څخه پورته وي یا یې له واک څخه بهر وي په ایران کې د سیستان د حاکم یا د مالیې د رئیس له خوا او په افغانستان کې د چخانسور د حاکم یا د مالیې د رئیس له خوا یا د هغوی د استازیو له خوا حل او تصفیه کېږي او هر هغه نظر، چې دغه هیئت یې یو د بل په اتفاق غوره بولي هغه نظر به پرېکنده او د اجرا وړ وي، لکه هماغسې چې نور تر منځ مسایل په همدې بڼه د ښکرې له پیدا کېدو څخه تر دوو میاشتو پورې حل کېږي، که تر دوومیاشتو حل نشول، نو ډېر ژر به د دواړو لوریو د مرکزونو له خوا حل او هوارېږي.

**دولسم توک:** دواړه لوري ژمنه کوي، چې که چېرې د یوه هېواد اتباع د کمال خان له بند څخه د هیرمند د سیند د اوبو په استعمال کې، چې دلته په دغه قرارداد کې ښودل شوي دي سرغړونه وکړي یا یې له مقرراتو پښه ها خوا کېږدي، نو ډېر ژر به د خپل هېواد دننه د هغو د مخنیوي لپاره لازم اقدامات کېږي او پر ته به قانوني سزا ورکول کېږي.

**دیارلسم توک:** دواړه ژمنه کوونکي لوري به د دوو میاشتو په اوږدو کې د کمال خان له بند څخه د هیرمند د سیند له اوبو څخه د استفادې ترتیب او د خپلې برخې د اندازې په هکله اطلاع د سرحدي مامورینو له خوا د سیمې اوسېدونکو ته او د هیرمند سیند شا و خوا خلکو ته ورکول کېږي.

**څوارلسم توک:** ژمنه کوونکي هر لوری به ډېر ژر وروسته ددغه قرارداد له لاسلیک کېدو څخه مامورین وټاکي، چې دغه قرارداد تر اجرا لاندې راشي او څارنه ورڅخه پیل شي او دغه مامورین به په لیکلې توګه یو بل ته وروپېژندل کېږي.

**پینځلسم توک:** له لاسلیک څخه وروسته دغه قرارداد د درې میاشتو په ترځ کې د لوړو اړوندو مقاماتو له خوا تصدیق کېږي او تصدیق شوې نسخې به یې په کابل کې سره تبادله شي.

**شپاړسم توک:** دغه قرارداد په دوو نسخو کې په پارسي لیکل شوی دی او دواړه نسخې یې د اعتبار وړ دي. د پورتنیو مراتبو له مخې د دواړو خواوو مختار استازي دغه قرارداد لاسلیک او په خپل مهر یې په نښه کوي.

کابل د ۱۳۱۷ کال د بهمن (سلواغې) شپږمه نېټه
باقر کاظمي د ایران د شهنشاهي دولت لوی سفیر.

علي محمد د افغانستان د شاهي دولت د بهرنیو چارو وزیر.
په دې توګه د هلمند د سیند نیمې اوبه د سیستان له تاریخي نوم سره یو ځای د افغانستان دولت له خوا ایران ته ور وبخښل شوې. (البته د افغانستان شورا دغه قرارداد رد کړی و.)
خو امیر حبیب الله خان د ۱۹۰۵ کال له تړون څخه وروسته له انګرېزانو سره په خپلوژمنو کې د خپل مرګ تر وخته پورې لاس تړلی او وفادار پاتې شو او له هېڅ داسې مساعد فرصت څخه یې د افغانستان په بهرني سیاست د انګرېزانو د کنترول د مخنیوي سره او لرې کولو په موخه کار وانخیست. چې د ده تر برابر شوی و. په بهرني سیاست کې د امیر ټول فعالیتونه په لاندې توګه ایسار کړل شوي وو. له خپل لوري یې په ۱۹۱۱م. کال کې زر پونډه اعانه او په ۱۹۱۲م. کال کې یې په استانبول کې د یوې اور لګېدنې له لامله د ترکیې هېواد ته د افغانستان د خلکو له خوا نه شپږ زره پونډه اعانه ورکړه. همدا رنګه یې د ترابلس خلکو ته د ایتالیا د دولت له لوري د زیانونو د اوښتو له لامله مرسته وکړه. امیر دغه مرسته په بمبئ کې د ترکیې د قونسل جعفر بیګ په لاس واستوله. البته د ترکیې صدراعظم محمدسعید بن نامق په لیکلي توګه د افغانستان له دولت څخه مننه وکړه بېرته یې د امیر حبیب الله خان له لوري دوستانه ځواب هم ترلاسه کړ. همدا رنګه امیر په ۱۹۱۳م. کال په کلکته کې د خپل سفیر او د جاپان د دولت د قونسل په لاس زر پونده اعانه د جاپان کاختي وهلو خلکو ته واستوله. له روسیې سره د افغانستان سیاسي اړیکې. په تېره د روسیې او انګلیس د ۱۹۰۷م. کال له تړون څخه وروسته ښځي له منځه تللې وې، خو سوداګریزې اړیکې د دواړو هېوادونو تر منځ وې. د روسیې تجارتي سیاست په افغانستان کې ډېر ژر له تاوده هر کلي سره مخامخ شو او مخ په غوړېدو روان شو. د روسیې دولت هغومره ټکس، چې له تجارتي اجناسو څخه اخیست. د هغو په وړاندې یې افغاني سوداګرو ته تخفیف ومانه، نو په دې توګه د دواړو لوریو تر منځ راکړه ورکړه ورځ په ورځ پراخېده. روسیې ته د افغانستان صادرات دا وو: وړی. پنبه. پوست باب. پسونه. غویان. آسونه. درشکي. شوتلې، پیاز او ولې تخمونه. کونځالې، ممیز. کشته. انځر، آلو. بادام. جوز. پسته. انار. وربشې. غنم. وریجې. وریښم، زیره، غالۍ، کولمې او تریاك. همدا رنګه افغانستان یو شمېر هندي سوداګر مالونه لکه: ململ، ډهاکه اوساق رخت، رنګ او مرچ او نور د روسیې د مرکزي آسیا برخې ته صادرول. ددغو صادراتو د بیلګې په توګه ۱۹۱۵م. کال تر ۲۴ میلیونو روپیو پورې یا اته میلیونو روبل پورې رسېدله. له روسیې څخه د افغانستان واردات دا وو: وریښمین. زري او وړین رختونه، تاري ټوکر، ګلاباتون، مس، مسین لوښي، وسپنیز سیخ. ځرمن. کاغذ. ښیښه، کلوشې. تار. قند او چای، چړې او چاقوګان، پولادي تختې، المونیم، هفت جوش او سیماب، تیل او ګوګړ. ساعت، موزې، کوزې او چلمچې، خواږه، عطر، صابون، موم، چوان، چواني او برنجي لوښي. دغو مالونو په افغانستان کې ډېر زیات مشتریان او ښه نوم درلود، چې په پوخوالي. اصیل والي او کلکوالي کې مشهور وو. چې کلنی بیه یې د پنځه نیم میلیونو روبلو شا و خوا کې کېده. سره له دې هم د روسیې مالونو شهرت یو مهال دومره برید ته ورسېده، چې آن د هېواد ختیځ ولایتونو کې هم روسې سره د تجارت هوس پیدا شو کوم، چې هند ته ډېر

نږدې وو. په تيره بيا روسي ببلا ببل ډولونه صندوف او چيت رختونه. چې خلکو ډېر خوښول همدا رنګه سره زر، ماهوت، مخمل، توار، موزې، ساعتونه، پوستينونه، چيني باب، صابون او نور ټول هغه روسي وسايل وو. چې هم د متوسطو طبقو خلکو او هم لوړې طبقې خلکو ډېر خوښول. په دې توګه د دولت ګمرکي عايدات هم دغې ورځ په ورځ زياتېدونکي سوداګرۍ څخه مخ په زياتوالي وو. يواځې د قطغن او بدخشان ګمرکونه په کال کې د دوه ميليونه او درې سوه زرو روپيو په بدل کې اجاره ورکړل شوي وو. حال دا چې د مالياتو يوه زياته برخه د اجاره لرونکي له ستوني څخه تېرېده. همدا رنګه د بلخ، ميمنې او نورو ولايتونو سوداګري هم مخ په زياتېدو وه. په هر حال. د روسيې او افغانستان سوداګري هغه يواځينۍ بهرنۍ سوداګري وه، چې په هغې کې صادرات د وارداتو په پرتله زيات وو.

خو له ايران سره د افغانستان سياسي اړيکې ښې نه وې او کومه موضوع يې نه لرله، په تيره بيا د ۱۹۰۷م. کال تر تړون وروسته. دا ځکه چې ايران ويشل شوی و، او د روس او انګليس سيده واك دايران په شمال او جنوب باندې خپور و. آن دا چې د مشروطه نوي قانون يې هم ورګډ وډ کړ او د خلع شوي محمد علي په نوم يې (چې د ملت د استازيو د جرګې له خوا شړل شوی و او په ۱۹۰۹م. کې يې ځای محمد مرزا ته ورکړل شو) په ټول هېواد کې ګډوډي راوستل. د ايران له خوا ګومارل شوي امريکايي مارګن توستر د ايستل شو. د ايران د ماليې وزير د يوه ارمني په لاس ووژل شو. په آذربايجان کې د روسيې په دار ثقته الاسلام لکه. يوې مرغۍ غوندې په دار وځړول شو. د امام رضا ګومبذه په توپ والوځول شوه حال دا. چې د ايران ملي جرګې په ۱۹۱۲ کې له منځه تللې وې. همدې ګډوډۍ دوام درلود تر څو چې لومړی نړيوال جنګ شروع شو. په دغه موده کې د ايران حاکمه طبقه د پرنګي استعمار د لاس آله ګرځېدلې وه. خو خلکو او د هېوا منځنۍ طبقې د هېواد له ارزښتونو څخه دفاع کوله. دوی به د عمومي جهاد په هکله تبليغ کاوه او د آلمان له ځواکمن هېواد څخه يې مرسته غوښتله او د ترکيې پلوي يې کوله او غوښتل يې. چې د ايران پلازمينه له تهران څخه اصفهان ته ولېږدول شي. د شيراز خلکو هم د انګرېزانو په وړاندې پاځون وکړ او د ايران ۳۰ زره ژاندرام له خلکو سره يو ځای شول، په دې توګه د ايران ناپېيلی هېواد د انګرېزانو، روسانو او ترکيې د اخ و ډب ډګر جوړ شو. د انګليس په پارلمان کې کلنل بيټ وويل، چې د هند وحشي ګاونډيان يعنې ايران او افغانستان به د روس او انګليس په لاس جاروشي.

کله چې په ۱۹۱۴ کې نړېواله لومړۍ جګړه ونښته امير حبيب الله خان، لاس ترلی د انګرېزانو دوستۍ ته په تمه کښېناست او د يوه عام دربار په ترڅ کې يې د افغانستان د ناپېيلتوب اعلان وکړ امير په دغه دربار کې، چې د ستوري په مانۍ کې د ۱۳۳۲هـ.ق کال د روژې د اختر له لامله د انګليس د سفير په حضور کې جوړ شوی و. وويل چې:

د هندوستان د وايسرا صاحب (لارد هارنګ)، ليك په ځانګړې توګه د اروپا د حرب په هکله او په دغه حرب کې د لويې بريتانيا د ګډون په هکله زما حضور ته راورسېد او په ضمني توګه د دوستانه شعار په ترڅ کې يې ليکلي، چې. له دې لامله چې د افغانستان دولت د مرحوم اعليحضرت ضياء الملته والدين

Scanned by CamScanner

له دوران څخه تر اوسه پورې د لویې بریتانیا له دولت سره د تړون او د نږدېوالي ژمنه لري او د بهرنیو او مهمو چارو په برخه کې د بریتانیا د دولت سره مشوره کوي او د بریتانیا د دولت د نظر اخیستل یې خپل تړون کې شامل کړي دي او بیا دا تړون نوی شوی هم دی، نو ځکه د افغانستان ناپیيلتوب په دغه ډګر کې غوره بولم او د اخلاص او دوستانه شعار څرګندونه کوم. وروسته تر هغه امیر دا هم اضافه کړل، چې:

د جناب وایسرا د دوستانه لیك هغه مهم ټکي او مفهوم همدا و، چې ما وویل، مونږ هم وروسته تر ټولو دوستانه سریزو څخه دوست جناب وایسرا ته ولیکل، چې: "په رښتیا هم زمونږ دولت ستاسې د دولت په وړاندې تر هغه وخت پورې، چې له یوه لوري هم د بل لوري حیثیت، شرف او خپلواکي او استقلال ته کوم ګواښ او تیری نه وي متوجه شوی او ژمنه کړل شوی ټکی تر پښو لاندې شوي نه وي، دوستان دي او تر هغو پورې، چې د هېڅ یوه د حاکمیت د ملکي حقونو باندې له بل لوري کوم تیری نه وي شوی، له ناپیيلتوب څخه به انحراف ونشي(۱).

امیر د افغانستان ناپیيلتوب اعلان کړ، خال دا، چې په افغانستان کې د خلکو عمومي ولولې په څپو وې او د آزادو سرحداتو خلکو د همدغه کال په مني کې د انګرېزانو په ضد پاڅون وکړ.

د ۱۹۱۵ کال په اکتوبر کې د آلمان، آستریا او ترکیې سیاسي هیئت د آلمان د امپراتور ویلهلم او د ترك د سلطان محمد رشاد خامس له لیکونو سره یو ځای افغانستان ته را ورسېدل او د انګلیس په وړاندې یې په ګډه د یوه پیوستون غوښتنه وکړه. دغه هیئت د ۱۹۱٦م. کال د می تر ۲۲ مې نېټې پورې په افغانستان کې پاتې شو. د دربار او د افغانستان د مامورینو ډېره برخه د سردار نصرالله خان په لارښوونه د دغه پیوستون او له انګرېزانو سره د جګړې کولو پلویان وو. خلکو د جهاد خبرې کولې او د وزیرستان خلکو له ۱۹۱٦ کال څخه تر ۱۹۱۷م. کال پورې د انګرېزانو په وړاندې خپلې وسله والې مبارزې ته دوام ورکړ، خو سره له دې ټولو امیر حبیب الله خان دغه هیئت ناکام بېرته ستون کړ او د ۱۹۱۵م. کال په ترځ کې یې د جهاد د مشرانو ۵۴۰ کسیزه لویه جرګه هسې بوخته وساتله، چې په هغو کې ډېره برخه دیني علماء وو لکه: د اسلامپور پاچا (چې د انجم الدین اخوند ماذون و)، د موسی ملا محمد جان اخوند (نوموړی د فیض محمد صاحب زوی او د سوات د ملا عبدالغفور ماذون و)، د تګاو ملا صاحب (د هډې د ملا صاحب ماذون)، د د تګاو ملا صاحب (د هډې د ملا صاحب ماذون) تیرګړي پاچا صاحب (د هډې د اخندزاده صاحب. ماذون) د بړو میا صاحب، د حصارك میا صاحب، د هډې استاد شمس الحق صاحب، د صوفي صاحب زوی حافظ، جې، ملا محمد مرید، ملا عبدالغفار، شیخان صاحبان او د شور بازار د مجددي حضرت صاحب زامن او نور. په همدې وخت کې د کابل په عنایت چاپخي کې د اولی الامر د اطاعت رساله چاپ او په ټولو جوماتونو کې او د هېواد په ټولو عسکري قشلو کې وویشل شوه او په دې هکله یو شمېر مقالې هم په سراج الاخبار کې خپرې شوې. امیر حبیب الله خان ډېرې هڅې وکړې، چې د هېواد خلك د هېواد دننه او ختیزو آزادو سرحداتو کې د مسلمان پاچا

۱- سراج الاخبار، لومړی ګڼه. څلورم کال، د ۱۲۹۳ کال د وږي د میاشتې ۱۴مه، دوهم مخ.

د اطاعت په نوم د انګرېزانو په وړاندې له قیام او مبارزې څخه واړوي، په داسې حال کې، چې په هند او ایران کې د مبارزینو د قواوو له ضعف سره سره بیا هم د خلکو آزادي غوښتونکې مبارزې دوام درلود. امیر غوښتل، چې د آلمان او ترکیې له سیاسي استازي (هیئت) سره خبرې-اترې اوږدې کړي او په دې توګه د مفاهمې له لارې په انګرېزانو باندې خپلې غوښتنې ومني، خو نه یې غوښتل، چې ددغو غوښتنو په خاطر له انګرېزانو سره جګړه پیل کړي. د امیر حبیب الله خان دغه ټولې هڅې په یوه بحراني شېبه کې ټولې د انګرېزانو په ګټه پای ته ورسېدې. د هغو په وړاندې انګرېزانو یواځې همدومره ژمنه ورسره وکړه، چې د جګړې له پای ته رسېدلو څخه وروسته به د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژني او ده ته به ۲۰ میلیونه کالدارې د حق السکوت په توګه ورکړي او په هر کال کې به د افغانستان دولت ته دوه میلیونه او څلور سوه زره کالدارې هم ورکوي. حال دا، چې وروسته تر جګړې څخه د انګلیس دولت دغه یوه ژمنه هم پر ځای نه کړه، یواځې شل زره کالدارې یې تر پېښور پورې راولېږلې، چې هغه هم هماغه پاتې شوې، چې دا وخت امیر ووژل شو. د امیر دغه ډول چلند په افغانستان کې دده په وړاندې د خلکو کرکه راوپاروله، په تېره بیا روڼ اندو او د هېواد خپلواکي غوښتونکو په کلکه دده مخالفت وکړ.

محمود طرزي، چې قلم درلود په ۱۹۱۷م. (۱۲۹۶ شمسي کې) د سلواغې د میاشتې د اووم کال په ګڼه کې یې ولیکل: افغانستان یو خپلواك دولت و او وي به "ددغې لیکنې عنوان" استقلال دولت علیه مستقله افغانستان" و. طرزي په پیل کې د خپلواکۍ تعریف وکړ او له لغوي او حقوقي پلوه یې خپلواکي تشریح کړه:

"د افغانستان خپلواك دولت علیه له هر پلوه او په ټوله معنا یو خپلواك او مستقل هېواد دی او دوې به شپږ نیم کاله کېږي، چې مونږ ځان خپلواك کړی دی او د خپلې دعوا په وړاندې کوم مدعي هم نه لرو..."

په ۱۹۱۸م. کال د شوروي اتحاد د سوسیالیستي نوی تأسیس شوي دولت او د جرمني د هېواد تر منځ د (برست لیتوفسك) تړون لاسلیك شو. ددغه تړون په اووم توك کې د افغانستان او ایران د خپلواکۍ په هکله داسې راغلي وو: د افغانستان او ایران دولتونه باید خپلواك وي او بل هېڅ هېواد سره تړلی نه وي او د سولې د تړون لاسلیك کوونکي هېوادونه دنده لري، چې د افغانستان او ایران ځمکنۍ بشپړتیا، اقتصادي او سیاسي خپلواکۍ ته درناوی وکړي. البته دا هر څه یواځې نظري وو، تر څو چې د افغانستان ولس د انګرېزانو پلوي حاکمه دستګاه نسکوره او د تورې په زور یې پر دښمن باندې بری ومونده او د خپل هېواد خپلواکۍ یې بېرته ترلاسه کړه.

## دامیر حبیب الله خان وژل کېدل (د ۱۹۱۹م. کال د فروری ۲۱مه)

امیر حبیب الله خان د خپل سلطنت په پیل کې د خلکو د ډېرې کرکې وړ نه و، دا ځکه چې خلك دده د پلار له تاو تریخوالي دردېدلي وو، نو ځکه دده پاچا کېدل ورته غنیمت و، خو امیر حبیب الله خان ونشو کولای، چې دغه وضعیت وساتي. د دولت رشوت خوړونکو او مطلق العنان مامورینو خلك تر پوزې ورسول. په ۱۹۰۵م. کال کې له انګرېزانو سره د تړون لاسلیك کولو روڼ اندې د امیر له ادارې څخه زړه توري کړل او وروسته بیا د مشروطه غوښتونکو د وینو بهېدلو دغه زړه توروالی په دښمنۍ او

Scanned by CamScanner

غږ اخیستو غبرګون په شور بازار کې د تومانچې ډز و. د امیر بې باکۍ کړ غچ اخیستو بدل کړ. ددغه غچ اخیستو غبرګون په شور بازار کې د تومانچې ډز و. د امیر بې باکۍ کړ او ګوابنونه دربار اړ کړ، چې دده په وړاندې ودرېږي. دده ژوند ټول په حرم کې ډوب و، دې خبرې په ښارونو کې کرکه راوپاروله. له انګرېزانو سره د امیر جوړ جاړي او د افغانستان او د آزادو سرحدونو د خلکو د جهاد مخنیوی په هېواد کې منفي او ژوره اغېزه وکړه. دا ځکه هغه مهال، چې د هډې ملا نجم الدین صاحب په ۱۹۰۹م. کې د انګرېزانو د ښکېلاك په وړاندې د جهاد اعلان کړی و. په کابل، کاپیسا، پروان، لوګر، پکتیا او نورو ولایتونو کې یې د خلکو ولولې راوپارولې او جګړې ته یې ځانونه چمتو کړي وو، نایب السلطنه هم د سرحد له خلکو سره مرسته وکړه، خو امیر حبیب الله خان د ولس جهاد د اسلام د پاچا له امر او اجازې څخه پرته ناجایز وباله او د موسهي اخندزاده ملا محمد جان صاحب، چې د مجاهدینو په راټولولو بوخت و او په انګرېزانو باندې یې د برید لپاره په چمتوالي لاس پورې کړی و، کابل ته راوغوښتل شو او نظر لاندې وساتل شو. همدا رنګه امیر ناظر محمد صفر خان امین الاطلاعات، چې د نایب السلطنه د چارو یو ارکان او د جهاد ملاتړ کوونکی و، بندي کړ او حاجي عبدالرزاق خان، چې د نایب السلطنه او د سرحداتو د خلکو تر منځ یې تګ راتګ کاوه او اړیکې یې ساتلې. د هغه ډېره یې وشکوله.

د ۱۹۱۹م. کال په ژمي کې کله، چې امیر له خپل دربار سره یو ځای د جلال آباد او لغمان په شتائیه کې په تفریح بوخت و. او سردار امان الله خان عین الدوله په پلازمینه کې د وکیل السلطنت په توګه پاتې و، د لغمان په کله ګوش کې یوه سیاسي پېښه وشوه. چې د افغانستان په ټولنیز ژوند یې ژوره اغېزه وکړه. امیر حبیب الله خان د ۱۹۱۹ کال په فروری (د ۱۳۳۷هـ. ق په جمادي الاول) کې د کبانو د ښکار کولو په موخه له خپل ټول دربار سره یو ځای له جلال آباد څخه لغمان ته ولاړ او هلته یې په کله ګوش کې خیمه ووهله امیر یوه لویه خیمه لرله. چې د هغې په یوه څنډه کې د هغه د خوب کټ د خیمې له نورې برخې د یوې پردې په واسطه جلا شوي ګوټ کې ایښی و. د خیمې شا و خوا د تجیر په دیوالونو سره ګردا ګرد یو دهلیز جوړ شوی و، چې هلته غلام بچه ګان او د امیر د حضور نوکریوالان استراحت کېدل او ساتونکو هلته خار کاوه. له تجیر څخه بهر شاهي سرتیري او محافظ افسران وو. شا و خوا د نورو درباریانو خیمې ولاړې وې. د خیمې په دهلیز کې امیر محمد خان غلام بچه او له دهلیز څخه بهر افسر شاه علي رضا خان کنډك مشر نوکریوال و.

د پنجشنبې شپه وه، چې د ۱۳۳۷هـ، ق کال د جمادی الاول له ۱۸مې او د ۱۹۱۹م. کال د فروری له ۲۱مې سره برابره وه. د شپې له نیمایي وروسته درې بجې وې، چې یو وسله وال، چې ممکن کوم مرستیال هم ورسره و، د خیمې یوه څنډه پورته کړه او په بېړه لویې خیمې ته ننوت، هلته پاچا کرار ویده و، دغه سړي په ډېره سړه سینه او په کراره د تومانچې شپېلۍ د امیر له کیڼ غوږ سره ونیوله او وار یې ورباندې وکړ او په بېړه له هماغې لارې، چې راغلی و، بېرته ووت، د تومانچې ګولۍ د امیر د تندي ښۍ خوا پرسولې وه، خو بهر نه وه وتلې. کله چې د تومانچې غږ واورېدل شو، نوکریوال غلام بچه محمد خان د تجیر له دهلیز څخه په احتیاط سره د خیمې ور ته ورننوت هغه له لرې ولیدل، چې پاچا

کرار ویده دی، ډاډه شو او بېرته راوګرځېد. حال دا، چې پاچا نور له نړۍ څخه تللی و. له خیمې څخه بهر شور زوږ و، چې ویل یې: د امیر صاحب خیمې ته نږدې د وسلې ډزې شوې دي. وروسته ویل کېدل، چې دغه نارې سورې په خپله هغه چا اچولې وې، چې د تومانچې ډز یې کړی و. دا هم ویل کېدل، چې کله د پاچا ویشتونکي له خیمې څخه راووت نو ډېر ژر هغه د کنډك مشر شاه علیرضا خان په لاس ونیول شو، خو ډېر ژر یو بل لوړ رتبه افسرا راپیدا شو او د محافظ عسکر پر مخ یې د ځپېړه ګوزار وکړ او ویشتونکی یې خوشې کړ او کنډك مشر ته یې وویل:

غلې اوسئ، اعلیحضرت ویده دی.

په هر حال، امیر حبیب الله خان په دغه ډول سره له منځه یووړل شو او یوه شاعر سردار عبدالرسول خان، چې تخلص یې رسول و، د امیر په ویرنه کې یو شعر ولیك، چې یو بیت یې دا و.

گلـــــوله بسر فخر ایشیا زده اند

تپانچه بـــسر ســایهٔ خدا زده اند(!)

## نایب السلطنه

د امیر د وژل کېدو له خبرېدو وروسته نایب السلطنه راغی او د امیر له خیمې بهر کښېناست. مامورین راټول شول او د امیر مړی یې ولید. خو په خپله نایب السلطنه د خپل ورور مړی ونه کوت او درباریانو ته یې وویل: په نړۍ کې دا ډول پېښې ډېرې راځي. باید پریشانه نه شو. بلکې په ارام فکر سره اصلي مطلب ته راشو، چې هغه د اسلامي سلطنت او هېواد ساتنه ده. بیا یې معین السلطنه ته ډاډ ورکړ، چې هك پك پاتې و او هغه ته یې وویل: اوس هغه وخت دی، چې تاسې له ما سره کټ مټ هماغسې چلند ولرئ لکه ما چې د ضیاء اللملته والدین د مړینې پر مهال ستاسې له پلار سره کړی و، او هغه ته مې د زړه له تل څخه خدمت وکړ. نایب السلطنه امر وکړ او عسکر او د دربار عمله یې راټول کړل او د یوې وینا په ترځ کې یې ټولو ته د امیر د مړینې خبره راوسپړله. سپه سالار محمد نادرخان ته دنده وسپارل شوه، چې مخکې تر مخکې جلال آباد ته ولاړ شي او پوځ له نوي وضعیت سره سم برابر کړي. سر جماعه محمدولي خان ته دنده وسپارل شوه، چې د امیر مړی جلال آباد ته یوسي او د لغمان او جلال آباد تیلیفون تر سانسور لاندې راوستل شو.

د پنجشنبې په ورځ د جمادی الاول اتلسمه، چې د ۱۲۹۷ش. کال د کب له لومړۍ نېټې سره برابره وه (د ۱۹۱۹ د فرورۍ ۲۱مه) وه، ورځ پیل شوې وه، چې د لغمان له نظامي او ملکي ډلې څخه علي احمد خان شاه آغاسي ملکي را وړاندې شو او ویې ویل: تر هغو، چې نوی پاچا نه وي غوره شوی د شریعت له مخې پخوانی پاچا خاورو ته نشي سپارل کېدای، له دې لامله چې تاسې په شاهي کورنۍ کې یو عالم، فاضل او کامل شخص یاست، نو ځکه زه تاسې ته بیعت کوم. معین السلطنه د هغه لاس بېرته کړ او خپله را وړاندې شو ویې ویل: لومړی بیعت کول زما حق دی، نو بیا یې لاس اوږد کړ او بیعت یې وکړ. بیعت پیل شو او نایب السلطنه د افغانستان پاچا شو. نایب السلطنه په همدغه ورځ باندې جلال آباد ته ولاړ. د معین السلطنه تر قوماندې لاندې پوځ په نظامي قشله کې نوي پاچا ته هر کلی ووایه او سلامي

Scanned by CamScanner

یې ورته ووهله. ملکي مامورینو او یو شمېر مخورو بیعت وکړ او شاهي سور بیرغ ورپوړ شو امیر حبیب الله خان د جلال آباد د ګلف په ډګر کې خښ شو. نوي پاچا د هند وایسرا ته یو لیك واستاوه، چې په هغه کې یې لیکلي وو: د پنجشنبې په شپه درې بجې اعلیحضرت سراج الملته والدین په ناوړه کې؛ کله ګوش په سیمه کې د یوه ناځرګند سړي په لاس د تومانچې په ګولۍ شهید شو، ټولو زه د پاچا په توګه غوره کړم، د دولتونو تر منځ به اړیکې انشاءالله لکه د پخوا په شان وساتو. په بله ورځ، چې جمعه وه د نوي پاچا فرمانونه ولایتونو ته واستول شول او د پخواني پاچا د مړینې او د نوي پاچا د ټاکل کېدو خبرونه ورکړل شول او د بیعت غوښتنه وشوه، په داسې حال کې چې په همدغه د جمعې په ورځ سردار امان الله خان عین الدوله په کابل کې خپل سلطنت اعلان کړی و. امیر نصرالله خان یو رسمي فرمان او یو ځانګړی لیك د شجاع الدوله خان فراشباشي په لاس عین الدوله ته واستاوه او په دغه رسمي فرمان کې یې د امیر حبیب الله خان د وژل کېدو او د پاچا په توګه د خپل ځان د ټاکل کېدو په هکله لیکلي وو، په ځانګړي لیك کې یې عین الدوله ته د یوه مشاور پلاوي د ټاکل کېدو او جلال آباد ته د خلکو د بیعت د رالېږلو په هکله لیکنه کړې وه. مشاور پلاوي دا وو: سردار عبدالقدوس خان، اعتمادالدوله، سردار عبدالوهاب خان، محمد سرورخان د هرات پخوانی نایب الحکومه، نایب سالار صالح محمد خان، مرزا محمود خان امین نظام او د تعمیراتو سر کرده محمد علي خان.

شجاع الدوله د جمعې په ورځ لس بجې کابل ته ورسېد او له عین الدوله سره یې وکتل. نوموړی هغه ځوك و، چې ویل کېدل، چې د دربار د پټ ګوند (سري جمعیت) غړی، د عین الدوله همکار او د امیر حبیب الله خان وژونکی و. له دې لامله تر درې ورځو پورې بېرته جلال آباد ته د شجاع الدوله او د کابل له لوري کوم خبر را ونه رسېد، نو امیر نصرالله خان یو بل لیك له سردار محمد یونس خان سره عین الدوله ته واستاوه، دا ځکه چې د کابل تیلیفون ځواب نه ورکاوه، خو همدا، چې سردار محمد یونس کابل ته راورسېد او نوې وضعیت یې ولید، ډېر ژر یې امیر امان الله خان ته بیعت وکړ. د جمادی الاول په ۲۴مه نېټه شجاع الدوله خان او غلام محمد خان پنجاب باشي له کابل څخه سره له دوو کاغذونو، چې یوه کې امیر امان الله خان ته د کابل د نظامي او ملکي مامورینو او خلکو د بیعت لیك یو نقل و او بل یې د نایب السلطنه په نوم د خلکو د استازیو، مامورینو او افسرانو هغه لیك و، چې جلال آباد ته یې لیکلی و. دوی په لاره کې د تیلیفون مزی پرې او هغه سپاره ساتونکي یې کابل ته د تګ او د امیر امان الله خان ته په بیعت کولو کې وهڅول، چې د لارې د ساتلو لپاره ګومارل شوي وو، حال دا، چې په همدې ورځ باندې په جلال آباد کې د امیر نصرالله خان په تخت باندې د کښېناستو دود ترسره شوی و او توپونه ویشتل شوي وو. شجاع الدوله او غلام محمد خان د ماښام د لمانځه پر مهال جلال آباد ته ورسېدل او وروسته تر پلټنې او تلاشۍ څخه امیر ته ور د مخه شول امیر هغه لیك ولوست، چې ده ته را استول شوی و:

جناب نایب السلطنه صاحب، معین السلطنه صاحب، عضد الدوله صاحب، سردار صاحب صنایع، سردار صاحب مدافع، سردار غلام علي خان صاحب، سردار سپه سالار صاحب او د بې موجبه شهید

ټولو پاچا نظامي او ملکي ټولو عمله ته السلام علیکم: ان کانو علي سبیل الهدي. وروسته تر هغه څخه د امیر حبیب الله خان د وژل کېدو په هکله له تحقیق څخه د ډېره کولو او د هغه د زامنو د میراثي سلطنت له حق څخه د نایب السلطنه د سترګې پټولو په هکله خبره راغلې وه او په پای کې راغلي و، چې مونږ ټولو امیرالمؤمنین امان الله خان ته د بیعت لاس ورکړی دی. تاسې هم د امارت له فکر څخه تېر شئ او په عمومي بیعت کې لاسلیك وکړئ، که نه پرته له هغه به د وینو د تویېدو مسئولیت ستاسې په غاړه وي.

دا بواځې نه، بلکې شجاع الدوله خان د نایب السلطنه حضور ته د کابل وضعیت د شفاهي تفصیل په ترڅ کې، په ضمن کې د امان الله خان له خوا د خپلواکۍ د اعلان او د خلکو د ولولو او د کابل د پوځ د خوښیو په هکله هم خبرې وکړې. نایب السلطنه نه غوښتل، چې وینې تویې شي، خو سره له دې هم دده پلویانو د جګړې نقشه داسې جوړه کړې وه، چې: د جنوب له لوري به ناظم دوست محمد خان د ګردیز له افسرانو او سرتیرو سره یو ځای مخ په کابل ورځي، د شمال له لوري څخه به معین السلطنه د تګاو له لارې او مستوفي الممالك به د کوهدامن له لارې کابل تر برید لاندې راولي. په خپله سردار به له ختیځ پوځونو سره د ټول لښکر د زړه په توګه، پلازمینه تر برید لاندې راولي. د کونړ شیخ پاچا هم ژمنه وکړه، چې دوی پسې به لا خره له لس زرو وسله والو مومندو سره په کابل ورشي او عین الدوله به ونیول شي.

سردار نصرالله خان ونه منله او وېې ویل که زه د تاج او تخت د نیولو په خاطر وخوځېږم د هېواد د ختیزو پولو ټول خلك، زما تر توغ لاندې راټولېږي، خو په افغانستان کې د وینو تویېدل د اسلام په ګټه نه دي، نو ځکه له هغې پاچاهي څخه تېر شوم، چې په وینو ولاړه وي. دا مهال یې خپل منشي مرزا محمدخان ته امر وکړ، چې دده بیت لیك دې د امیر امان الله خان په نوم ولیکي، د جمادی الاول په ۲۵مه د نایب السلطنه په لاسلیك سره لاندنی بیعت لیك د امیر امان الله خان په نامه واستول شو:

"حضرت الهی جل جلاله دې د ګران او خواږه زوی وجود روغ ولري او د سترګو تور امیرامان الله خان دې بریالی او خوښ وي او د روزګار له پېښو دې ساتلی وي او خپلو مقاصدو کې دې کامیاب وي. له دې لامله چې ارجمندانو معین السلطنه او عضدالدوله او پاتې نورو ارجمندانو او د حضور خدمتګارانو، نظامي او ملکي صاحب منصبانو د غوښتنې له لامله مې د افغانستان امارت ومانه او په تفصیل سره مې تاسې ته خبر درکړی و، په بل ځل ماته ستاسې ګران زوی له خوا خبر راغی او پوه شوم، چې د کابل د دارالسلطني خلکو تاسې ته بیعت کړی دی او تاسې د افغانستان امارت ځانته منلی دی، نو له دې لامله چې ما د امارت کومه هیله نه درلوده، خو یواځې ستاسې د سرپرستي او د افغانستان د ملت او دین د ساتنې لپاره مې دغه دروند بار ته اوږه ورکړه او هېڅکله مې ستاسې نفاق او خپګان نه غوښت او نه یې غواړم او تاسې خپل ګران زوی بولم او ستا سرلوړي او امارت او دولت هم خپل ګنم، په دې توګه زه خپله په خپله خوښه د افغانستان له امارت څخه استعفا کوم د حضرت الهي جل جلاله له دربار څخه تاسې ته امارت او امانت نیك، پاینده او باقي غواړم. انشاءالله تعالی زه په خپله هم کابل ته در روان یم او ستاسې په لیدلو به بریالی شم او د بیعت لاس به درکړم. پاتې نور بریالیتوب.

نصر الله"
یوه ورځ وروسته سردار عنایت الله خان او سردار حیات الله خان هم د مستوفي الممالك مرزا محمد
حسین خان په لیك خپل بیعت لیکونه لاسلیك او د امیر امان الله خان په نوم یې ور واستول. د دوی د
بیعت لیك په پای کې دا مصرع راغلې وه:

"ای غایب از نظر بخدا میسپارمت"

تر دې وخت پورې د امیر امان الله خان اعلامیو په ټول هېواد کې خپله ژوره اغېزه کړې وه او خلك ار
پوخ ورته خوښ وو. هغه ویلي وو، چې ما تخت او تاج د افغانستان د کورنۍ او بهرنۍ خپلواکۍ د
بېرته ترلاسه کولو په شرط منلی او هم به د هېواد د پوځ ژوند ته پاملرنه کوم. نو کوم ځای، چې له امیر
سره د کوم مخالفت نښه څرګندېده د سیمې عسکرو به ډېر ژر د نوي پاچا په پلوي هلته مداخله کوله. د
بېلګې په توګه په قطغن کې والي ناظر محمد صفرخان، چې د نایب السلطنه په ډلې پورې تړلی و او
خپل بیعت لیك یې هم د هغه په نوم جوړ کړی و، د عسکر له خوا له دندې لرې او بندي شو او بیا کابل ته
را واستول شو. په میمنه کې هم جنرال عبدالغفارخان د نوي دولت د پلویانو له خوا ونیول شو. وروسته
بیا په هرات کې هم همداسې یوه پېښه وشوه. په جلال آباد کې هم همداسې وشول. پوځ له خپل منځ څخه
یو هراتي سرتیری، چې غلام رسول خان نومېد غوره کړ او هغه یې خپل وکیل او قوماندان وټاکه. دغه
نوي قوماندان په دولتي ګودام جب خانه، وسله تون او خزانې باندې ساتونکي وګومارل او دولتي
اداري یې هم ساتنې کې راوستې او د امیر امان الله خان په نوم یې خطبه ولوسته. د ودانۍ له پاسه یې د
نایب السلطنه بیرغ راکوز کړ او نایب السلطنه یې په ډېر درناوي سره تر نظر او ساتنې لاندې ونیو.
سپه سالار سردار محمد نادرخان او د هغه کورنۍ یې له مرزا محمد حسین خان مستوفي الممالك سره
بندیان کړل او د شاه علیرضاخان کنډك مشر تر قوماندې لاندې یې د ساتونکو سرتېرو په امنیت کې
کابل ته واستول او د خپل استازي په لاس یې د پوځ بیعت هم کابل ته واستاوه. د پوځ دغه فعالیت د
افغانستان د اردو د نظم او دسپلین یوه څرګنده بېلګه وه، چې د هېڅا وینه توې نه شوه او نه هم کوم څه
ویجاړ شول. ورپسې د جمادی الثانی په درېیمه (د مارچ په اتمه) نایب السلطنه او معین السلطنه په
موټر کې له جلال آباد څخه کابل ته ورسول شول او مخامخ د ارګ د حرمسرای سراچې ته بوتلل شول. څو
ورځې وروسته معین السلطنه له خپلې کورنۍ سره د سراچې په محبس کې یو ځای شو او نایب السلطنه
په یواځې توګه د ارګ شمالي برج ته او بیا وروسته د ارګ د لوی حرمسرای د دروازې سر پورې کوټې
ته، چې (جرثقیل) بلل کېده ولېږل شو، معین السلطنة څلور میاشتې له خپلې کورنۍ سره یو ځای دلته
پاتې شوه وروسته یې بیا هغه دده خپل شخصی کور ته واستاو، دا ځکه چې هغه د محمود طرزي زوم او
د خپل ورور امیر امان الله خان باجه و او داسې سړی و، چې کومه ادعا یې هم نه لرله. هغه څه موده
وروسته له خپل شخصي کور څخه هم آزاد ګرځېدای شو او بیا په یو مهال کې د خپل ورور امیر امان الله
خان د دربار یو غړی شو. خو نایب السلطنه بل ډول سړی و. هغه په افغانستان او آزادو سرحداتو کې نوم
درلود او په مرکز کې هم یو نیم لوړ رتبه مامورین روحانیون او یو شمېر مخور د هغه پلویان وو. امیر

Scanned by CamScanner

امان الله خان ته هغه د یو څو اکمن سیال په توګه ښکاره کېده. د دغو پېښو ژوره برخه یو بل لامل و. هغه دا، چې د افغانستان په پخواني دولت کې نایب السلطنه د انګلیسي ضد افکارو مرکز و. هغه فعالیتونه، چې د انګرېزانو په ضد په آزادو سرحداتو کې ترسره کېدل، په هغو کې د ده لاس و. نایب السلطنه له انګرېزانو سره د جګړې او د افغانستان د خپلواکۍ پلوی و، نوځکه د انګلیس دولت د ده دښمن و، اګر که د نایب السلطنه کورنۍ اداره د انګلیس له پالیسي سره برابر هم وه. یعنې هغه د منځنیو پېړیو د واکمنیو پلوي و او د هر ډول ټولنیز بدلون مخالف و او مترقي بدلون یې نه غوښت. نو ځکه د ده ژوند د داخلي او خارجي سیاست له پلوه له ګواښ سره مخامخ و. امیر امان الله خان د نایب السلطنه له بندي توب څخه دوه میاشتې وروسته یو دربار جوړ او د یوه مصنوعي تحقیق نتیجه یې بیان کړه، چې دغه نتیجه د نایب السلطنه، شاه علیرضاخان کنډکمشر او یوه بل درباري (عبدالاحد خان) په الزام ولاړه وه. امان الله خان په دې هکله نظرونه وغوښتل او دا یې هم وویل، چې عضد الدوله او شاهي خاندان د نایب السلطنه په اعدام کولو رایه ورکړې ده. مدافع سردار امین الله خان، چې د امیر تره و، پاڅېد او ویې ویل: زمونږ یو ورور نوروو وژاه او دا بل مونږ خپله ووژنو؟ البته په بندي کولو کې یې څه نه وایم. د صنایعو سردار محمد عمرخان هم د دغه وړاندیز ملاتړ وکړ. دریم ورور سردار محمدغلام علي خان وویل د هر جرم تور باید ثبوت شي، تاسې زمونږ مشر ورور محکمې ته حواله کړئ، که چېرې تور ثابت شو سزا دې ورکړل شي، که نه خوښې به شي، زمونږ او تاسې رایه معتربه نه ده. په دې توګه نایب السلطنه بندي پاتې شو. عبدالاحد خان تبعید شو، شاه علیرضاخان بې ګناه افسر، چې د امیر حبیب الله خان وژونکی او هغه افسر چې وژونکی یې له محافظ څخه ژغورلی و، دواړه یې پېژندل، د سیاست له مخې په اعدام محکوم شول. یو هغه درواغجن شاهد، چې دده په وړاندې یې شهادت ورکړ د سردار محمدشیرعلي خان جاغوري له کورنۍ څخه فتح علي خان جاغوري و، په دې توګه کنډک مشر په ګولیو وویشتل شو. تر دې وخت پورې د پلازمینې په ټولو کړیو کې همدا ګنګوسه وه، چې د امیر حبیب الله خان وژونکی شجاع الدوله خان فراشباشي دی (چې نوموړی د دربار د سري جمعیت غړی و)، نه بل څوک او بیا دا خبرې په څرګنده هم کېدې.

همدغه سړی بیا د امیر امان الله خان پر مهال د کابل امیر العسس، بیا د عمومي امنیت وزیر، وروسته د هرات د تنظیمیه هیئت رئیس او بیا په لندن کې د افغانستان مختار وزیر شو. انګرېزانو هغه ته په بده سترګه کتل او د امان الله خان د سلطنت د راپرځېدو پر مهال یې هغه له لندن څخه وایست. شجاع الدوله برلین ته ولاړ او هلته میشت شو او بیا وروسته د دویمې نړېوالې جګړې په ورځو کې همالته مړ شو. مستوفي الممالك مرزا محمد حسین خان د ۱۲۹۸ کال د غویي په ۱۴مه نېټه (۱۹۱۹) کې د ارګ په بڼ کې په یوه ونه کې وځړول شو. نایب السلطنه یو کال او درې میاشتې په بند کې پاتې شو، په دې ترڅ کې نوموړي د خپل محبس له مامور (محمد امین فراشباشي جدید) څخه یو قلم او کاغذ وغوښت او امیرامان الله خان ته یې یو لیك ولیك او دغه لیك یې د ارګ د محافظو سرتېرو د کنډك مشر محمدرفیق خان په لاس امان الله خان و استاوه او بیا یې د هغه ځواب هم ترلاسه کړ. محمدرفیق خان د دغه لیك او د

Scanned by CamScanner

هغه د ځواب په هکله داسې ویل:

"ارجمند کامګار امیرامان الله خان، تاسې ته څرګنده ده، چې ما د امیرصاحب شهید په دوره کې ستاسې حمایه کوله او اوس هم له تاسې سره کوم مخالفت نه لرم. اوس له تاسې څخه درې هیلې لرم لومړی دا، چې ما له بند څخه خوشې کړئ او پرېږدئ، چې خپل پاتې عمر په مکه معظمه او مدینه منوره کې تېر کړم، که دا نه منئ ما خپل کور ته واستوئ، زه له خپل کور څخه بهر نه وځم، درېیم دا چې که دا یو هم نه منل کېږي، نو زه حاضر یم تاسې ته خدمت وکړم. نصرالله.

امیرامان الله خان د دغه لیک په ځواب کې ولیکل: "دروند تره سردار نصرالله خان ما د خپل پلار پر مهال کوم جنایت نه و کړی، چې تاسې زه حمایه کړی وای، که چېرې تاسې له ما سره کوم مخالفت نه درلودای، نو ولې مو په جلال آباد کې دولت محمد خان ناظم مقرر کړ، چې په کابل باندې د یرغل په خاطر جنوبي لوري (پکتیا) ته ولاړ شي؟ تاسې به یو څه موده همدلته اوسئ. امان الله."

شجاع الدوله خان په ۱۹۲۱م (۱۳۰۰ ش.) کال کې د هرات په ښار کې ماته وویل:

"امیر امان الله خان د نایب السلطنه محبس (جرثقیل) ته زه له یوه پیغام سره واستولم. محمدامین فراشباشي زه د سردار کوټې ته ور وستم او هغه په خپله بېرته ووت. تخت بام او هغې کوټې دوارو لمر درلود او اوچتې کړکۍ او آئینې یې درلوذې، هغه کړکۍ چې مخ په بهر لوري ده په یوه لمخي سره بند کړل شوی و، دغه کوټه په دوهم پوړ کې وه، یو چت لرونکی تخت بام، یوه لویه کوټه، یوه کوچنۍ کوټه او یو تشناب پکې و، محافظ به د تخت بام د زینې په سر ولاړ و، سردار یوازې و، د کوټې فرش یې یوه سترنجۍ وه، چې یو کټ، یو صراحي او ګېلاس، یو د اوبو لوښی (آبدان) یو کوزه او چلمچي هم ایښې وو. کټ لاندې یوه توشکه وه او نایب السلطنه دروند ورباندې ناست و، سردار یوه عادي چپنه اغوستې وه او سپینه لونګۍ یې تړلې وه، یو څه ستومانه، خواشینی او ډنګر برېښېد. د کوټې په کونج کې جای نماز هم و. ما سلام واچاوه په درناوي ودرېدم، هغه په یوې موسکا سره ځواب راکړ ما، چې وکتل سردار په ږیره لاس نه و وهلی، ښه یې ژیړه برېښېده، چې یو ډول خوړ ښکارېد. کله مې چې د سردار د روغتیا پوښتنه وکړه، ډېر لنډ یې وویل چې ښه یم. وروسته یې په خپله پوښتنه وکړه، څنګه راغلی یې کوم کار لرې؟ ما وویل: امیر صاحب تاسې ته سلام وایه او ستاسې د روغتیا پوښتنه یې کوله او فرمایل یې، چې: "هغه قرآن چې لیکنې پکې وې چېرته دی؟ هغه راوښیئ چې په کار دی" نایب السلطنه ځواب راکړ: زه نه یم خبر، چې چېرته دی، تاسې ته معلومه ده چې چېرته دی. شجاع الدوله ویل چې ما سردار ته وویل، چې که قرآن راوښیئ ستاسې په ګټه ده. هېڅ مې په یاد نه ده، چې چېرته دی ښایي په خپله امان الله سره به وي. زه وپوهېدم، چې نور ټینګار ګټه نه کوي، نو په درناوي سره راووتم. سردار یوازې خپل سر د خدای پامانۍ په ښه وښوراو. په ما باندې د نایب السلطنه دغه استقامت او استغنا ډېره اغېزه وکړه دا ځکه چې هغه آن یوه کوچنۍ غوښتنه هم ونه کړه. کله مې چې د سردار ځواب امیر ته ورساوه، یو شیبه چوپ پاتې شو، بیا یې وویل: نور یې هېڅ ونه ویل ما ورته وویل: هېڅ یې هم ونه ویل، بیا لږ موسکی شو او ویې پوښتل: روغتیا یې څنګه وه؟ ما وویل په څرګنده خوښه وه. شجاع

الدوله دا هم وویل، چې امیرامان الله خان د قرآن د نه پیدا کېدو له لامله په اند ښنه کې و. دا څکه چې په دغه قرآن کې امان الله خان، نایب السلطنه او د دربار د سري ګوند یو شمېر نورو غړو ژمنه کړې وه، چې د خپل مرام په ترسره کولو سره به د افغانستان وضعیت بدلوي. حال دا، چې دغه قرآن له نایب السلطنه سره و، خو سره له هغو ټولو پلټنو چې په کابل او جلال آباد کې د هغه په کورونو کې ترسره شوې هغه پیدا نه شو.

څه موده وروسته امیر امان الله خان نایب السلطنه له جر ثقیل څخه راکوز کړ، بېرته یې هغه د حرمسرای په سراچه کې میشت کړ او د هغه میرمن عالیه بیګم یې د هغه له کوچني زوی سره ورسره یو ځای کړل او د سردار بوډۍ مور او د سردار لور (سرداربېګم) ته یې هم اجازه ورکړه، چې د ورځې له خوا سردار ته راشي، خو د شپې به بېرته کورونو ته ځي. د سردار ټولې اړتیاوې، خوراك او څښاك د ارګ له خوا چمتو کېدل. په دې توګه سردار ژوندی پاتې شو او له امیرامان الله خان سره یې د پخلا کېدو اټکل زیات شو، خو په همدې وخت کې یوه پټ ځواکمن لاس نه غوښتل، چې دا کار وشي. دغه پټ لاس غوښتل، چې دغه حکمرانه کورنۍ ټوله له منځه یوسي او داسې دولت په افغانستان کې واکمن شي، چې په معنا کې د هندوستان د لاسپوڅي راجه ګانو سره کوم توپیر ونه لري، تر څو د انګلیس دولت د تل لپاره د دغه هېواد له تشویش څخه ډاډه شي.

دغه پټ لاس په کابل کې یو پروپاګند پیل کړ، چې نایب السلطنه په بند کې ډېر کړول کېږي او شکنځلې ورته شوي دي، د دغو پروپاګندو اغېزې د نایب السلطنه په پلویانو باندې ډېرې بدې وې. دغه خبرو د نایب السلطنه په پلویانو کې یو توپان راپاڅاوه. په دغو پلویانو کې یو هم محمداختر خان و. هغه د ناظر محمدصفرخان امین الاطلاعات زوی و، چې ده او دده کورنۍ یو ډېر اوچت ادبي استعداد درلود او د انګرېزانو کلك مخالفین وو. ناظر محمد صفرخان د نایب السلطنه وفادار همکار و، چې له همدې لامله یو ځل بندي شوی هم و. د هغه زوی محمدانور بسمل د افغانستان د مشروطه غوښتونکو په ډله کې د ارګ جیل ته واچول شو او ورور یې محمد اختر خان د امیر حبیب الله خان د حضور د سر اوسان د هباسي، چې له دندې څخه لرې کړل شو. خو نایب السلطنه محمداخترخان په غېږ کې وینو او هغه یې حان سره د ملګرو په ډله کې شامل کړ. وروسته یې هغه بیا دده د پلار پر ځای د امین الاطلاعات په توګه مقرر کړ او د افغانستان د آزادو سرحداتو چارې یې ورته وسپارلې. امیرامان الله خان دغه کورنۍ له دولتي دندو ګوښه کړه، خو سره له دې هم محمدانورخان بسمل، چې یو پخوانی مشروطه غوښتونکی و، د امیرامان الله خان د مترقي رژیم پلوي پاتې شو.

همداسې یوه حالت کې یو ناڅاپه د ملا عماد الدین په نوم یو هندوستانی مسلمان له پېښور څخه کابل ته راغی او یو شمېر فعالیتونه یې پیل کړل. دغه چالاك او زرنګ سړی له پخوا څخه افغانستان سره پېژند ګلوي لرله او ځان یې د غوره مالۍ له لارې کابل سره تړلی و. هغه ځان په لیکلې بڼه له پېښور څخه د افغانستان د جاسوسي خدمت ته ګوماره او یو څه موده یې وریا توګه یو څه خدمتونه وکړل، تر څو چې د کابل د باور وړ وګرځید. بیا کابل ته راغی، چې په پیل کې ورته دلته یو لومړنی د میاشتې

۶۰۰ کلدارې معاش مقرر شو. له دې وروسته به هر کال د معاش د اخیستو په نوم کابل ته راته. دلته به یو دوه میاشتې اوسېد او بیا به بېرته ستون شو. خو نوموړی دومره فعاله سړی و، چې په همدومره موده کې یې د اطلاعاتو د محکمې له مامورینو، محمد اختر خان او آن له سردار امان الله خان عین الدوله سره خان آشنا او لیده کاته یې ورسره وکړل. په دې وخت کې نوموړی بیا را پیدا شو او دا خل یې ورو ورو محمد اختر خان، چې په ټولو آزادو سرحداتو کې پېژندل شوی مشهور سړی و. دې ته اړ کړ، چې په افغانستان کې هسې وزګار کښېناستل بې ګټې کار دی، باید آزادو سرحداتو ته ولاړ شي او هلته فعالیت وکړي، خو کله چې اختر محمد خان دې کار ته چمتو شو، نو په نایب السلطنه باندې یې د امان الله خان له لوري د ظلم کیسه رامنځته کړه. ددې په پایله کې اختر محمد خان د یوه پټ ګوند په جوړولو پیل وکړ. چې لاندیني کسان یې پکې غړي شول: همدغه ملا عماد والدین. غلام حیدر سرحدي، چې د چرګې هګۍ له ۴۰ متره واټن څخه ور څخه نه خطا کېده. عبدالرحیم خان د هغه قاضي القضات سعدالدین خان خپلوان. چې د امیر حبیب الله خان پر مهال د ټول هېواد د پړاوونو مشر او اوس له دندې لرې کړل شوی و، د نایب السلطنه غلام بچه عبدالله. د محمد عمر خان محمدزایي زوی محمدامین، سردار محمد محسن محمدزی، سردار محمد کریم خان محمدزی، د نایب السلطنه له درباریانو څخه یو دلاور خان پنجشیری. چې د اختر محمد خان شخصي ناظر و. د نایب السلطنه د دربار اړوند تکړه شاعر مرزا محمد علي خان تایب او نایب السلطنه د زوی سردار عزیزالله خان کتاب ساتونکی او ښه شاعر حافظ الله محمد اکبر خان فارغ. ددغه ګوند موخه د امیر امان الله خان وژل او د نایب السلطنه ژغورل و، د خبرو رسولو دنده ملا عماد الدین ته او د پاچا د وژلو داو طلب غلام حیدر سرحدي او د جمعیت مشر محمد اختر خان و. محمد اختر خان یو یوولس ډزی انګلیسي ټوپك او دوه زره روپۍ غلام حیدر ته او یوه یوه تومانچه د جمعیت غړو ته ورکړې، خو د جمعیت غړي سردار محمد کریم خان ددهٔ پلار سردار محمد اکبر خان په هدایت له جمعیت څخه ووت او په غونډو کې حاضر نشو. همدا رنګه دلاور خان پنجشیري، مرزا محمدعلي خان تایب او محمد اکبر خان فارغ د پاچا له وژلو سره موافقه ونه کړه، نو له دې لامله، چې دوی درې واړه د اختر محمد خان شخصي ملګري وو. نو هغه یې هم له دې کار څخه منع کړ، خو ګټه یې ونه کړه او دوی له جمعیت څخه ووتل.

په پای کې ملا عماد الدین خبر ورکړ، چې سبا ته د جمعې په ورځ پاچا پغمان ته ځي، نو غلام حیدر، عماد الدین. عبدالرحیم او یو دوه نور له ده څخه د مخه د قرغې پله ته ورغلل او پل یې خراب کړ او په خپله یې د پله تر څنګ پټې کې ځانونه د غنمو بوټو کې پټ کړل. نیمایي ورځ وه چې یو لوی موټر را پیدا شو: کله چې پلته ته راورسېد نو پل وران و. دوی ودرېدل ۲۵ تنه وسله وال سرتیري له دوو افسرانو سره یو ځای له موټر څخه راکوز شول او پلټنه یې پیل کړه. تروریستانو فکر وکړ، چې دغه سرتیري د پاچا ساتندوی سرتیري دي او پل به جوړ کړي او په خپله لاره به ځي. نو ځکه په تمه شول چې په خپله پاچا راورسېږي، شجاع الدوله خان امین العسس اوعبدالحمید خان کمیدان عسکرو ته امر وکړ. چې د پله شا و خوا او د غنمو کروند محاصره کړي. عبدالرحیم وغوښتل، چې د کروندې له یوه

اړخ ځخه ووځي، خو هلته له یوه سرتیري سره مخامخ شوودرید" او په تومانچې سره یې سرتیری په نښه کړ. د یو بل سرتیري د ټوپك په ډز دی په خپله له پښو وغورځول شو. شجاع الدوله غړ وکړ ورونو مه ویرېږئ راځئ، چې خبرې سره وکړو. موټر پغمان ته تلو پل مو وران ولید او ودرېدلو. تاسې بې سببه وارونه وکړل، که دښمن لرئ موټر ته وواياست، زه امين العسس یم ستاسې ساتنه کوم تر دې مهال پورې سرتیرو ټوله کرونده ایساره کړه، نو ځکه تروریستانو د تېښتې او مقابلې توان نه درلود. نو ځکه تسلیم شول او وسلې ورځخه واخیستل شوې او د کوټوالۍ جیل ته واچول شول. د جمعیت مشر مازیګر مهال له دې پېښې ځخه خبر شو. په داسې حال کې چې د هغه موټر حرکت ته چمتو و او په ګلبهار کې دوه آسونه هم ورته په تمه ولاړ و. تر څو خپل ناظر دلوخان پنجشیري سره پنجشیر ته ولاړ شي او د قطغن له لارې له آمو ځخه پورې وځي، خو هغه دلوخان پنجشیري ته وویل چې زه به ونه تښتم، ځکه بیا به زماملګري او کورنۍ زما پر ځای تباه شي. د شپې استنطاق پیل شو او تر سبا پورې یې دوام وکړ، ملا عماد الدین وویل: زه د تورنو له ډلې ځخه نه یم، بلکې زه د باچا خادم یم. ما له تګ ځخه مخکې یو لیك کوټوالۍ ته لېږلی و. هغه تاسې ولولئ. امرالدین خان چې څه موده مخکې له هندوستان ځخه افغانستان ته راستون شوی و. هغه د بندي شویو مشروطه غوښتونکو په ډله کې و، چې بیا د امیرامان الله خان له خوا راخوشې او اوس د کوټوالۍ یو مامور و. هغه تصدیق کړه. چې دغه لیکنه ماته رارسېدلې وه، خو له دې لامله چې د رخصتۍ ورځ وه او اعلیحضرت له ښار ځخه بهر و، لیکنه ما سره پاتې شوه. په خپله پاچا دغه لیکنه وغوښته هغه ولیدل. چې هندي ملا داسې لیکلي وو:

«زه له څه مودې راهیسې په شك کې وم، چې یوه ډله خائینان د یوه ناوړه قصد په لټه کې دي، نو زه د هغو د پېژندنې په لټه کې شوم. نن جمعه سهار مې دا وموندل، چې هغوی د یوه ناوړه قصد د ترسره کولو لپاره پغمان ته ځي، له دې لامله چې وخت ډېر لږ و. دغه لیك مې واستاوه، چې د اعلیحضرت حضور ته وړاندې شي. زه خپله ددغه مهم خدمت لپاره ورغلم، خو له دې لامله چې جمعه وه او دفترونه تړلي وو، دغه لیك مې امرالدین خان ته ورکړ چې ویې رسوي.

خوش باور پاچا، چې هغه خپل پخوانی جاسوس ګاڼه، د هغه لیك یې تصدیق کړ او د خوشې کولو امر یې وکړ. ملا خوشې شو او د تل لپاره له کابل ځخه ورك شو. دده پر ځای د جمعیت ټول غړي د هغو په ګډون چې قرغې ته نه وو تللي ونیول شول او په جیل کې واچول شول. یواځې د جمعیت مشر چې سهار وختي د دلاورخان کور ته ورغلی و او هلته یې د حکومت اقدام ته کتل پاتې و، کله چې هلته پولیس ورغی او دروازه یې وټکوله هغه تومانچه خپل ښي غوږ ته ونیوله او ګولی یې له کيڼې سترګې ځخه ووتله. محمد اختر خان، چې یو مغرور سړی و، دلاور خان ته وویل: غلی اوسه. زه ددې لپاره چې په جیل او د استنطاق په ترځ کې سپك نشم ځان وژنم، هغه د پولیسو په لاس کوټوالۍ ته بوتلل شو او د پاچا په امر روغتون ته یووړل شو. د استنطاق په ترځ کې څرګنده شوه، چې محمد محسن خان لا د مخه خبرې پاچا ته وړې وې، نو ځکه یې هغه خوشې کړ او وروسته بیا هغه په غزني کې د سیمې علاقدار مقرر شو. دلاور خان پنجشیري او محمد اکبر خان فارغ ولیکل، چې په پاچا باندې ناوړه قصد کې مې لاس نه و،

Scanned by CamScanner

خو له دې لامله چې د محمد اختر خان ملګري وو، نو ورځخه جلا نه شولو. سردار محمد کریم خان ولیکل، چې ماته محمداختر بلنه راکړه، چې د جمعیت غړی یم، خو کله مې چې پلار ته وویل، ماته یې سزا راکړه او له کور څخه له وتلو یې منع کړم. له هغه وروسته نور له جمعیت څخه خبر نه شوم. خو غلام حیدر او عبدالرحیم د منکر کېدو لپاره کوم دلیل نه درلود.

وروسته تر څو ورځو د سزا ورکولو دربار جوړ شو او تورن کسان د تحقیق له پاره سره د پاچا حضور ته ور وستل شول، خو له اختر محمدخان څخه د هغه د سترګې د ټپ له لامله تحقیق نه و شوی. پاچا په شفاهي توګه له محمداختر خان څخه وپوښتل: ښه اختر جانه، پوهېږم چې دروغ نه وایې، ووایه چې له خپل دې کار څخه دې څه موخه وه؟ پاچا غوښتل چې په ځواب کې یو څه د نایب السلطنه په هکله واوري، خو اختر محمدخان پوهېدلی و، نو ځکه یې ځواب ورکړ: زما دې کار کوم ځرګند لامل نه درلود، خو یواځې زړه مې وغوښتل، چې دا کار وکړم. پاچا یوه ترخه موسکا وکړه او بیا یې وپوښتل که خوشې شې، بیا دې لاس بر شي، زما په هکله څه کوې؟ ځواب یې ورکړ، اعلیحضرت پوهېږې چې نور نو ژوند ماته کوم ارزښت نه لري، که ژوندی پاتې شم او لاس مې بر شي بیا به هم تا ووژنم.

پاچا وپوښتل: د خپلو ملګرو په هکله څه وایې؟ له دې لامله چې لا تر دې وخته د اختر محمد سترګې ترلې وې، نو نه پوهېده چې څوک نیول شوي. نو پوښتنه یې وکړه، د اعلیحضرت موخه زما د کوم ملګري په هکله ده؟ پاچا وویل:

مثلاً دلوخان (دلاور پنجشیری). اختر خان وویل: کله مې چې هغه ته بلنه ورکړه ویې نه منله او زه یې هم منع کړم او زما نظر سره موافق نه شو. پاچا وپوښتل حافظ محمد اکبر څنګه؟ هغه هم لکه د دلوخان په شان زما نظر ونه مانه. پاچا وپوښتل: دغه غلام حیدر دې له کومه کړ؟ ده وویل هغه مې ځکه راوست، چې د بره پخه ښه لري. پاچا وپوښتل: د محمدکریم په هکله څه وایې؟ ځواب یې ورکړ، هغه په پیل کې په جمعیت کې راګډ شو، خو هغه لا خبره نه و کړې، چې سردار محمدکریم خان یې خبرې ته ور ولوېد او ویې ویل: محمداختر بد کوي: د هغه خبره لا پای ته نه وه رسېدلې، چې پاچا امر وکړ او هغه یې وراته او پوښتنه یې بیا له محمد اختر څخه تکرار کړه. محمد اختر ځواب ورکړ، وروسته بیا محمدکریم جمعیت

پرېښود او بیا رانغی. پاچا وپوښتل د مرزا محمد علي خان په هکله دې څه ونه ویل؟

محمداختر خان ځواب ورکړ: کله مې چې مرزا صاحب ته بلنه ورکړه ویې نه منله او زه یې هم په خوږه ژبه منع کړم، نور نو زمونږ تر منځ په دې هکله څه خبرې ونه شوې. همدا مهال مرزا محمدعلي خان د هغه له کور څخه راوستل شو. پاچا له هغه څخه وپوښتل: کله چې محمداختر خان تاته زما په ضد بلنه درکړه تا څه وکړل؟ مرزا په کرار ورته وویل: ومې نه منله. پاچا وپوښتل: تاسې د نوکانو د شا پال هم ګورئ؟ اعلیحضرت! دا شیان هسې د تفریح لپاره و. پاچا ور څخه وپوښتل کله چې ته زما د وژلو له قصد څخه خبر شوې، ولې دې زه خبر نه کړم؟ مرزا ځواب ورکړ: ما پاچا ته خیانت ونه کړ او بلنه مې ونه منله، خو نه مې غوښتل چې خپلو دوستانو ته هم خیانت وکړم. محمداختر حیران و، چې پاچا ولې د نورو په هکله پوښتنې ونه کړې. حال دا، چې عماد الدین ځان د پاچا پخوانی جاسوس معرفي کړی و او محمد محسن

محمدزایی خو د پاچا نوی جاسوس و، چې په قرغه کې یې په پاچا د ناوړه قصد راپور مخامخ پاچا ته راوړی و او جمعیت یې ونیو، پاتې نور د عمل په ترڅ کې ونیول شول او اعترافونه یې وکړل. پاچا له لږ ځنډ ځخه وروسته امر وکړ:

محمد اختر خان، غلام حیدر خان، دلو خان، مرزا محمدعلی خان تایب. عبدالله خان غلام بچه او د سردار محمدعمر خان زوی محمد امین خان دې اعدام شي. حافظ محمد اکبر خان دې د هغه پلار حافظ مجذوب په لحاظ او عبدالرحیم دې د هغه د نیکه قاضي القضات په لحاظ له اعدام ځخه معاف شي. د محمد اختر ورور محمد انور بسمل دې بندي شي او د کورنۍ ټوله شتمني دې ضبط شي. محمد کریم دې بندي شي او د هغه کورنۍ او پلار دې غزني ته تبعید شي. دغه حکم اجرا شو او تورن کسان د شیرپور غونډۍ ته بوتلل شول. محمد اخترخان په پټو سترګو غږ وکړ: دلوخانه چېرته یې؟ هغه ځواب ورکړ: تر ځنګ دې یم، لکه هغسې چې په ژوند کې درسره وم. محمد اخترخان وویل: ښه ده باید همداسې وي. د ټوپونو غږ شو او دوی ټول په یوه شېبه کې له منځه ولاړل. شجاع الدوله د دغو پېښو د بیان په ترڅ کې وویل: دا یوازې د اخترمحمدخان دغه کار و چې د نایب السلطنه د نابودۍ لامل شو، که نه پاچا غوښتل چې هغه لکه د معین السلطنه په شان خپل کور ته واستوي او آزاد او په پټ سره یې وساتي. البته له دغې پېښې ځخه وروسته نایب السلطنه بېرته له خپلې ښځې او بچې ځخه جلا او د حرمسرای له سراچې ځخه د جرثقیل محبس ته واستول شو او له محمد امین فراشباشي یعنې د جبل له ساتونکي ځخه پرته نور ځوك د هغه له ژوند ځخه خبر نه وو. نایب السلطنة خپل توان له لاسه ورکړ او د ۱۳۳۸هـ.ق د رمضان په دوهمه د جمعې په شپه (د ۱۲۹۹ش. کال د غویي په ۲۱مه (۱۹۲۰) کې ومړ او په دې توګه د افغانستان په دربار کې د انګرېزانو ضد یو مهم مرکز له منځه ولاړ.

امیر امان الله خان په پغمان کې و، چې جنرال غلام جیلاني خان ځرخي د ارګ قلعدار د نایب السلطنه د مړینې خبر په تیلیفون کې ورته ورکړ، پاچا له پغمان ځخه کابل ته راغی او د ارګ له نوکریوال غونډ مشر جان محمدخان ځاځي سره د نایب السلطنه جیل ته ور وخوت. کله یې چې د هغه مړی د هغه په بستره باندې ولید، یو آه یې وکېښ او ویې ژړل. د نایب السلطنه تکفین او تجهیز تر ماخستن پورې وشو، چې د هغه زوی سردار عزیزالله خان هم حاضر و او د شپې له خوا پرته له کومو تشریفاتو ځخه د ارګ د یو شمېر افسرانو او سرتیرو په واسطه د هغه د جنازې لمونځ دده افغانانو د میرانو په جومات کې ادا شو او مړی یې د ده افغانانو د نوآباد د قول چکان په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

# نهم

# نوې بدلون او د ارتجاعي ځواکونو غبرګون

# افغانستان د شاه امان الله خان د سلطنت پر مهال

# (د ۱۹۱۹ له فروري څخه د ۱۹۲۹ تر جنوري)

د افغانستان د ۱۹۱۹م کال د سیاسي انقلاب پر مهال د افغانستان کورنی وضعیت داسې و:
له اتلسمې پېړۍ څخه وروسته د هېواد د ملوك الطوايفي سیاسي بڼې بدلون وموند. دا ځکه چې فیوډالي اقتصاد مخ په وده و. سوداګریزه پانګه چې د پانګوالی اقتصاد سرکښه ده، د امیرشیرعلي خان له دوران څخه لږ لږ شا و خوا تر سترګو شوه، چې تر څنګ یې یو نیم ځای د نوي کلتور او صنعت ښېلګې هم تر سترګو شوې. د امیرعبدالرحمن خان پر مهال د دولت مرکزیت او د هېواد سراسري امنیت سوداګرۍ، د کرنیزو محصولاتو مازاد او په ملي کچه د سوداګریزې پانګې د رامنځته کېدو نښې څرګندې شوې. د امیر حبیب الله خان پر مهال سوداګریزې بورژوازي لږ څه کلکوالی وموند او یو نوی کلتور راڅرګند شو، خو د ملت بشپړ اکثریت یعني بزګران، شپانه او پیشه وران لکه د پخوا په شان د مالیاتو تر درانه بار لاندې وو. دوی دولت ته حواله شوې غلې ورکولې او فیوډال او ارباب، اجاره لرونکو او تحصیلدارانو ورڅخه خپلې برخې اخیستې. دغې طبقې پرته له دې، چې حاکم طبقات تغذیه کول، یو شمېر وړیا کارونه (بیګار) او د دولت، رسمي مامورینو، اجاره لرونکو او ملاکانو شخصي او رسمي کارونه یې پر مخ بیول. دولت په دغو خلکو پرته له کوم مزد څخه لارې- پلونه او نور جوړول لویو چارواکو خپل ټول ضروریات د خریدارۍ د حوالې او په ټیټه بیه د اجناسو پیرودنه په جبري ډول له دوی څخه بشپړوله، ملاك او ځمکوال به هم له بزګر څخه اعظمي استفاده کوله. ملك او ارباب او اجاره لرونکو په ګډه سره بزګران او کروندګر تر ځبېښناك لاندې لرل. دولت د ځمکوالو او فیوډالانو ګټې ساتلې، په داسې حال کې، چې د هېواد د ژوند او خپلواکۍ ساتنه هم بزګرانو کوله. د امنیت په حالت کې به بزګرانو دولت ته سرتیري ورکول او د جګړې په حال کې به ټول په خپله وسله په اوږه جګړې ته تلل. په افغانستان کې صنعتي لویې فابریکې ((پرته له یو دوو)) څخه نه وې او نه هم کارګره طبقه (پرته له څو زرو تنو) څخه جوړه شوې وه، خو په ملیونونو بزګران او پیشه وران وو، چې دوی ټول د بهرني ښکېلاك او کورني ځبېښناك په ضد او د یوه عمومي پاڅون ته چمتو او د بهرنیو د تیري او ظلم او کورني استبداد په مقابل کې جګړې ته تیار وو.
د هېواد سوداګریزې بورژوازي. چې د خان د ودې او پرمختګ هلې ځلې یې کولې، له هغو امتیازاتو څخه، چې دولت، صرافانو، سوداګرو او بهرنیو دلالانو (هندوستانیانو) ته ورکول، شکایتونه لرل او د

کښې شمېر کورنيو او سيمه ييزو ګمرکونو له شتون څخه ناخوښه وو.
دوی غوښتل، چې سيمه ييز ګمرکونه له منځه يووړل شي، هندي سوداګر وشړل شي او د خپلې سوداګرۍ د ودې لپاره پرانيستې قضا جوړه کړي. د هېواد روحاني قشر هم په عمومي توګه د پاچا له بې بندوبارۍ او عياشي او د دولت له بهرنۍ تګلارې څخه خوښ نه و او د دوی په وړاندې نور پاچاهي خپل هغه پخوانۍ آسماني سپېڅلتوب له لاسه ورکړی و. دوی غوښتل چې په افغانستان کې داسې دولت جوړ شي، چې له انګرېزانو سره تړلتيا ونه لري. د هېواد يو شمېر فيوډالان. چې لکه د روحانيونو په شان د منځنيو پېړيو د وچ نظام پلويان وو. دوی هم دې ته تيار وو. چې که څېرې له انګرېزانو سره جګړه پيل کېږي. دوی به له ولس سره ودرېږي. خو د افغانستان روڼ اندي چې د افغانستان د خلکو د استازيو په توګه يې لا مخکې له کورني استبداد او د بهرنيو له سياسي لاسوهنې سره مبارزه پيل کړې وه او په کلکه خپل شوي وو. د دوی پاتې شمېر اوس هم لکه د پخوا په شان د بهرني ښکېلاک په ضد ولاړ وو. په عمومي توګه په افغانستان کې سياسي او اقتصادي اکر د يوه ټولنيز بدلون او سياسي انقلاب لپاره چمتو شوی و او د کورني استبداد د پای ته رسولو او د بهرني امپرياليزم د واک د له منځه وړلو لپاره شرايط چمتو وو. په همداسې يو وخت او اکر کې د درباري ليبرالانو له خوا له پاسه يوه کودتا وشوه. امير حبيب الله خان ووژل شو او امان الله خان چې لا له پخوا څخه د هېواد له روڼ اندو سره په اړيکو کې و او يو بل يې پېژندل. د دغه نوي غورځنګ په سر کې راغی. امير حبيب الله خان د ۱۹۱۹م. کال د فرورۍ په ۲۱مه شپه ووژل شو. امير امان الله خان د فرورۍ په ۲۳مه خپل سلطنت اعلان کړ او د همدې مياشتې پر ۲۸مه يې د چاپي مفصلو اعلاميو په ترڅ کې د افغانستان خلکو ته خپل مرام تشريح کړ. ددغې اوږدې اعلاميې لنډيز دا دی.

"د افغانستان ستر ملته! زه د پلار د شهادت پر مهال په کابل کې د سلطنت وکيل وم او اوس مې دغه درونډ بار ته د الله په توکل او مرسته په ربښتيني توګه اوږه ورکړه او دغه امانت مې ترلاسه کړی دی. کله چې زما ستر ملت د پاچاهۍ تاج را په سر کړ. ما ژمنه وکړه چې بايد د افغانستان دولت لکه د نړۍ د نورو خپلواکو قدرتونو په شان د هېواد دننه او بهر خپلواک او مستقل اوسي. د افغانستان ملت د هېواد دننه بشپړه خپلواکي لري او له هر ډول ظلم او تيري څخه محفوظ دی او فقط د قانون تابع دی او بس. اجباري کار او بيګار وروسته تر دې څخه په ټولو برخو کې منع او لغو دی. زمونږ حکومت به په افغانستان کې يو شمېر اصلاحات راولي. تر څو هېواد او ملت وکولای شي د نړۍ د پرمختللو نورو ملتونو په منځ کې خپل مناسب دريځ ومومي. زه د هېواد په چارو کې د (شاورهم فى الامور) له حکم سره سم سلا او مشوره د لارښوونې په توګه منم. ای زړور ملته او تميز لرونکي قومه د خپل دين، دولت او ملت په ساتنه کې بيداره او د خپل هېواد په ساتنه کې هوښيار اوسئ. زه له لوی خدای (ج) څخه تاسې او ټولې اسلامي نړۍ او ټول د انسان بني نوع ته خير او نيکمرغي غواړم."

د امان الله خان د مرام دغه اعلان د هېواد د ټولو بزګرانو. شپنو. سوداګرو. پيشه ورانو او روڼ اندو ملاتړ ترلاسه کړ. دا ځکه چې منځپانګه يې د ملت له غوښتنو سره برابره وه. امير امان الله خان پوهېده،

Scanned by CamScanner

چې د خلکو په منځ کې، یواځې پوځ پخواني وژل شوي پاچا ته وفادار و، نو ځکه هغه په خپلو وینااو او اعلامیو کې وویل چې: امیر حبیب الله خان په ناحقه وژل شوی او زه د هغه زوی یم، چې وینه به یې ګټم. د یوه سرتیري معاش چې مخکې تر دې ۱۲ روپۍ و، نور به ۲۰ روپۍ کېږي. دولت به ډېره پاملرنه د پوځ اړتیاوو او هوساینې ته کوي، ځکه چې همدوی د هېواد خپلواکي ساتي. په دې توګه د افغانستان شپېته زره کسیز پوځ په ټول هېواد کې د نوي دولت ملاتړ وکړ. امیر امان الله خان په دغه ځواب سره د سلطنت نور مدعیان لکه نایب السلطنه او معین السلطنه له ډګر څخه وکښل.

کله چې امیر امان الله خان له انګرېزانو سره د جهاد خبره وکړه، د هېواد بېلا بېل طبقات سره یو لاس شول، خو دغه یووالی د ملي ګډ ارمان (یعنې له انګرېزانو سره د جګړې او د خپلواکۍ ترلاسه کولو) پورې تینګ پاتې شو، خو د ګډ ارمان ترلاسه کولو وروسته د طبقاتو لارې جلا شوې. فیوډال او اشرافو او روحانیونو، چې کتل د دوی ګټې، امتیازات او مستمرې له منځه ولاړې، نو د دغه دولت په ضد شول، خو رښتینو روڼ اندو او کېڼ اړخو تر پایه پورې له دغه دولت څخه ملاتړ وکړ. دا ځکه چې دا ورته څه نا څه مترقي ښکاره کېده.

په هر حال، کله چې امیر حبیب الله خان ووژل شو، د فروري په ۲۳مه یې خبر د شجاع الدوله فراشباشي په لاس کابل ته راورسېد او ویل کېږي چې نوموړی هغه وژلی و او د دربار د سرې ګوند غړی هم و. دا وخت د شهزاده امان الله خان عین الدوله په مشرۍ د دربار د لویو څېرو او مخورو افسرانو په ګډون یوه غونډه جوړه شوه او د نوي پاچا امیر نصر الله خان فرمان ولوستل شو. په دغه فرمان کې راغلي وو، چې: امیر حبیب الله خان د یوه ناپېژندل شوي په لاس وژل شوی دی او سردار نصر الله خان نایب السلطنه پاچا شو، باید عین الدوله د کابل بیعت لیک واخلي او جلال آباد ته یې را واستوي. د مجلس ډېرو غړو لکه سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله، محمد نعیم نایب سالار بدخشاني، مرزا محمود خان امین نظام محمد سرور خان (بابای کرام)، سردار عبدالوهاب خان امین المکاتیب، سردار محمد علي خان د تعمیراتو سر کرده او نورو د رایو په اکثریت سره ویل، چې هماغه څه دې عملي شي کوم چې په فرمان کې ویل شوي دي او د وینو له توییدو دې مخه ونیول شي. محمود طرزي او یو شمېر نور افسران غلي وو. امیر امان الله خان پوهېد، چې د افغانستان اردو امیر حبیب الله خان ته وفادار دی، نو پاڅېد او ویې ویل: د امیر شهادت د هغه چا په لمسون ترسره شوی دی، چې په خپله سلطنت غواړي (موخه یې نایب السلطنه وو) نو ځکه زه په وینو لړلو لاسونه ته بیعت نه کوم، په یواځیتوب د غچ اخیستلو ته تیار یم؛ هغه څوک چې له ما سره موافق دي زما ښي لاس ته دې ودرېږي. هغه لومړنی څوک، چې را وړاندې شو هغه نایب سالار صالح محمد خان د کابل د پوځ د لومړنۍ لوا قوماندان و، هغه د امان الله خان لاس په بیعت کولو سره ونیو او خپله د وفادارۍ لوړه یې وکړه او د هغه ښي لاس ته ودرېد. موقع پېژندونکو درباریانو هم همدا کار وکړ. عبدالوکیل خان بهر ووت په بیړه یې د کابل پوځونه احضار او د عامه سلامخانې مخامخ یې د تیارسۍ په حالت کې ودرول. امان الله خان سپور مخې ته ورغی او د پوځ عسکري سلام یې ومانه او په هغې وینا کې، چې ویې کړه ویې ویل: پوځ د هېواد او خپلواکۍ

...انونکی دی، نو باید د پوځ هوساینه د دولت د پام وړ وي، پخوا دا ډول نه وه، خو په راتلونکې کې به همدا کار کېږي. پوځ شاهي سلام وغړاوه او توپونو ډزې وکړې، په هغه سبا د فروری په ۲۴مه د کابل خلکو او د پلازمېنې پوځ د مراد خانیو په ډګر کې یوه لویه غونډه جوړه کړه. امیرامان الله خان خاسپور او بوائې د خلکو منځ ته ورغی، خپله توره یې له تیکې کښلې وه او په ملا پورې یې تړلې وه او خلکو ته یې خپله تاریخي او نامتو وینا واوروله. هغه د هېواد دننه فردي آزادي او د افغانستان خپلواکي اعلان کړه. د عدالت، برابري، د ملت د آزادي او د نوي ذولت د صداقت په هکله یې خبرې وکړې، خلکو ولولې څرګندې کړې او د خوښیو نارې سورې وې. وروسته له وینا څخه امیر راستون شو او په دې توګه نوی دولت جوړ او اعلان شو او د لسو ورځو په ترڅ کې ټولو ولایتونو په رسمیت وپېژاند، خو د هېواد شا او خوا هېوادونو وضعیت دا مهال په دې توګه و:

اروپا، چې د آسیا په برخلیك باندې یې لویه اغېزه لرله له ۴۳ کلونو راهیسې د «وسله والې شوالیې» تر نوم لاندې په پولادو او وسپنیزو وسلو کې ډوبه وه او د تیارسۍ په حالت کې وه، دا ځکه چې پانګوالي نظام او د اقتصادي سیالیو په لاره کې استعماري منډو تړړو د اروپاو، وچه په یوه چاودېدونکي بم بدله کړې وه، د بېلګې په توګه د لومړي نړېوال جنګ له پیل کېدو څخه یو کال مخکې د اروپا د ځواکمنو دولتونو (جرمني، انګلیس، ایتالیا، فرانسې، روسیې، هنګري او آستریا (اتریش) د نظامي بودیجې لګښتونه په ۱۹۱۳ میلادي کال کې فرانسوي نهه زره میلیونه فرانکه کېدل، چې د اروپا د خلکو ملا ددغه دروند بار لاندې ماته وه. له جرمني سره د انګلیس د دولت سمندري او سوداګریزه ډېره کلکه سیالي د اروپا د وسله تون د چاودنې لپاره د اورلګیت په شان وه او په پای کې دغه چاودنه وشوه هم او د اروپا هېوادونو لکه د وږیو لیوانو په شان یو بل باندې اخته شول او نړۍ یې په وینو کې ډوبه کړه. دغه لویه او بیسارې نړېواله جګړه د ۱۹۱۴م. کال د جولای په ۲۸مه پیل شوه او د ۱۹۱۸م. کال د نوامبر تر یوولسمې پورې روانه وه، چې له څلورو کلونو څخه زیات وخت یې ونیو او د ځمکې د غونډاري درې وچې یې لکه د وبا په شان ونیولې. یواځې جرمني او فرانسې په دغه جګړه کې خپل ۲۲ میلیونه کاروباري ځوانان د جګړې ډګر ته واستول او همداسې نورو هېوادو هم. په پایله کې کله، چې اروپا، آسیا او افریقا تر پښو لاندې دل شوه، کرنه او صنعت هم تپیان شول، نو د جرمني استریا، مجارستان د هنګري، عثماني، ترکیې او بلغاریا متحدو دولتونو د متفقینو (روسیې، فرانسې انګلیس، ایتالیې، جاپان امریکا او یو شمېر نورو لویو او کوچنیو لکه عربستان، ماشینګرو، رومانیا، یونان، سیام، چین کیوبا، اراکو، برازیل او مستعمراتو) په وړاندې ماته وخوړه. بلغاریا د ۱۹۱۸م. کال په سپتمبر کې په ماتې خوړلې حال کې په سالونیك کې د سولې تړون ته غاړه کېښوده او عثماني ترکیه په نوامبر کې د اوربند غوښتونکې شوه، جرمني په بشپړه ډول ماتې خوړلې وه او له دښمنانو سره یې د اوربند هیله وکړه او اتریش امپراتوري هم نوره پاتې نه وه، د وارسا ۴۴۰ توکیز بیساري قرارداد لاسلیك او د جرمني مستعمرات د انګلیس، فرانسې او جاپان تر منځ وویشل شول، وروسته وروسته ورپسې عثماني او اتریش هم سره وپاشل شول. په دې پېښو پسې وروسته په نړدې ختیځ کې د یونان په

Scanned by CamScanner

وراندې په دفاعي جګړو کې او د فرانسې په وړاندې دوه کلنو جګړو کې او بیا له فرانسې سره د ارمنستان او سلېزیې په سر جنګونو کې د مصطفی کمال په لارښوونه د ترکیې د ملت زړورتیا تر سترګو شوه.

په هر حال، لومړۍ نړېوالې جګړې د یو شمېر هېوادونو ټولنیز او سیاسي ژوند کې بدلون راوستی او په دې لړ کې د افغانستان شا و خوا کې هم مثبت او منفي بدلونونه راغلل. د بېر لوی بدلون د افغانستان په شمال کې په روسیه کې ستر بدلون و، چې د لومړي ځل لپاره په نړۍ کې د عملي سوسیالیزم ایدیالوژۍ عملاً را څرګنده شوه. د روسیې تزاري دولت په لومړۍ نړېواله جګړه کې خپل متحد دولت یعنې انګلیسانو سره ژمنه کړې وه. چې په افغانستان کې د کوم پاڅون د پېښېدو په صورت کې به دغه ملي پاڅون د انګرېزانو په ګټه او په مرسته وځپي. د روس تزاري دولت افغانستان کې د لاسوهنې په خاطر، د هېواد په شمال کې د ملخانو د زیاتېدو بهانه لټوله. خو ددې کار لپاره یې وخت ونه موند او په ۱۹۱۷م. کال روسي کارګرانو لوی پاڅون وکړ او د نړۍ په تاریخ کې یې یو نوی څپرکی پرانیست. چې دیموکراتیک انقلاب څخه وروسته مارچ کې امپراتور دوهم نیکولای استعفا وکړه او دده ورور ګراندوک میشل هم دده پر ځای له کښېناستو څخه ډډه وکړه. د روسیې دوما (ملي شورا) یو موقت حکومت د برنس لیوف په مشرتوب جوړ کړ. په جولای کې د کرنسکي حکومت د هغه ځای ونیو. خو کرنسکي هم په نړېوال ډګر کې هماغه د زاري روسیې سیاست پر مخ بیوه او له افغانستان سره یې هېڅ ډول اړیکې نه نیولې. د نوامبر په اوومه په ۱۹۱۷م کال کې بالشویک (کمونیست ګوند) د روس د دولت واک ترلاسه کړ او د نوامبر په ۲۲مه یې د جرمني له دولت سره اوربند اعلان کړ. د دواړو لوریو تر منځ خبرې-اترې د ۱۹۱۸ کال د دسمبر له ۲۲مې څخه تر فروري پورې په برست لیتوفسک کې روانې وې، خو پایله یې نه وه، جرمني یو ځل بیا د مسکو او پتروګراد په لوري بریدونه پیل کړل. نو دا مهال د روس انقلابي دولت اړ شو، چې د (برست لتیوفسک) تړون لاسلیک کړي. ددغه تړون له مخې د فنلند، اوکراین، لهستان، لېوانیا، کورلاند، لیوتیا او په لویدیځ کې استونیا او په ختیځ کې قارص او باتوم ټول د روسیې له نوي دولت څخه جلا شول او د روسیې په انقلابي دولت باندې د شپږ زرو میلیونو غرامت (تاوان) ورکړه ومنل شوه. رومانیا هم اړ شوه، چې د ۱۹۱۸م. کال د مارچ په ۲۲مه په بخارست کې د سولې تړون د جرمني په ګټه لاسلیک کړي. وروسته له دغه پېښو څخه لویدیځو سوبمنو دولتونو، چې جرمني او د هغې متحدین مات کړي وو، د روسیې انقلابي سوسیالیستي دولت ته یې مخ واړاوه. دوی د کالدین، کولچاک، بودنیچ د نیکن او رانګل په شان خلکو ملاتړ پیل کړ او د روسیې دننه نورو سره یې لاس یو کړ او د شوروي دولت په ضد یې راپاڅول انقلابیون له دغه ازمایښتي پړاو څخه بریالي راووتل او سور پوځ په ټولو مخالفینو باندې بری وموند او د انقلاب بریالي او بشپړ شو. خو بیا هم شوروي دولت تر ۱۹۲۰م. کال پورې له رنیو ارتجاعي ځواکونو او لویدیځو هېوادونو له لاسوهنو سره بوخت پاتې شو. دا مهال په ۱۹۱۹م. کال کې افغانستان خپله بشپړه خپلواکي ترلاسه او اعلان کړه البته افغانستان په خپل دغه انقلابي اقدام کې په دې باندې پوهېده، چې د انګرېزانو د نظامي او سیاسي تېریو په وړاندې د خپل شمال له لوري (د جبهې له شا څخه) بېخي ډاډمن دي. دا مهال

افغانستان ته د انګرېزانو له خوا خطر له بل هر پخواني وخت څخه زيات شوی و. دا ځکه چې د انګليس دولت د خپلو آسيايي او فريقايي مستعمرو (په هند، آسټرليا. جنوبي افريقا او نورو)، کې د خلکو د ځان او مال په شتمنۍ او وينو تويېدو سره د جګړې په ډګر کې بريالي شوي وو. د هغه لوی سيال جرمني له خپلو متحدينو سره يو ځای له منځه تللی و، د امريکا متحده ايالات هم له سمندرونو څخه پورې غاړه خپل کور ته ستون شوی و، نو په دې توګه ټوله افريقا او آسيا د انګرېزانو واک ته پاتې وه. د انګليس بريالی دولت نه يوازې دا، چې د جرمني د استعمار پاتې شونې له فرانسې او جاپان سره وويشلې. بلکې د ۱۹۱۷م. کال د مارچ په مياشت کې يې بغداد. د دسمبر په مياشت کې يې بيت المقدس. د ۱۹۱۸م. کال په سپتمبر کې يې د مشق او بيا يې حلب هم ونيول او په پای کې يې سمندري ځواکونو له فرانسوي ځواکونو سره يو ځای د قسطنطينې په غاړو کې لنګر واچاوه. دا يوازې نه، بلکې د انګليس دولت د خپلو پخوانيو متحدينو د قلمرو د نيولو په خاطر هم خوله پرانيستې وه. دوی په ۱۹۱۸م. کې کله، چې له ايران څخه روسيې ځان وکښي، نو انګرېزانو له ترکيې سره د مقابلې په نامه بېګناه ايران باندې تيری وکړ او هغه يې له نظامي اشغال لاندې راوست او په عشق آباد کې يې د خزر نه د پورې غاړو بولاسپوځي حکومت کښېناوه. په ايران باندې د انګرېز واک دومره ټينګ شو، چې د شوروي دولت استازي قره خان يې په ايران کې بندي کړ او انګليس ته تسليم شو، يو کال وروسته د دوی يو بل استازي کولوميتسوف په ايران کې د انګليس او د سپين ګارد له خوا اعدام شو، همدا رنګه د انګليس واک په ايران کې د ۱۹۱۹ کال تړون د ايران په هېواد باندې د صدراعظم وثوق الدوله په لاس باندې لاسليک کړ، چې د هغې له مخې د ايران پوځ د انګليس د افسرانو تر لاس لاندې او د ايران وزارتونه د انګليس مشاورينو تر لاس لاندې شول او د ايران ګمرکي ماليات د انګليس د مامورينو شول. د انګرېزانو دومره پراخ واک او په ايران کې د هغوی د نظامي ځواکونو شتون، د افغانستان سياسي او نظامي کلابندي د ختيځ، جنوب او لويديځ له لوري بشپړه کړه او د افغانستان او انګليس تر منځ د جګړې د پېښېدو په صورت کې افغانستان خامخا د همدغو دريو جبهو له لوري تر بريد لاندې راتلای شو. په تېره بيا انګرېزانو غوښتل. چې د افغانستان د کلابندۍ دغه کړۍ د روس د دولت په پخواني قلمرو کې د خپل واک په ټينګولو سره نوره هم بشپړه کړي.

يعنې له چترال څخه تر بلوچستان پورې. له ايران څخه تر بخارا او بيا تر پامير پورې د خپل واک کرښه اوږده کړې او افغانستان په يوې کندې باندې واړوي، دا ځکه په دې مهال کې آذربايجان او د هغه د تيلو چينې، چې د زاري روسيې د مواصلاتو د د کرښې د وينو د رګونو په شان وې، دوی اوس هغه خپل واک لاندې راوستې وې او پوځ له باکو او مشهد څخه د عشق آباد په لوري روان شوی و، د انګليس استازيو د بخارا به دربار کې د بخارا د پاچا لاسليک په هغه تړون باندې ترلاسه کړ، چې د هغه له مخې د بخارا او خيوې راتلونکی برخليک ټول د انګرېزانو په لاس کې لويده.

د شوروي او ايران د ګاونډيو هېوادونو په همداسې يوه سياسي او نظامي وضعيت کې د انګليس هېواد د افغانستان له غوږ سره نږدې په هند کې يو لوی درې لکه او څلوېښت زريز پوځ درلود، چې په

Scanned by CamScanner

ټولو نظامي هوايي او ځمکني تجهيزاتو سمبال و، حال دا چې د افغانستان دولت تير ۱۸ کلونه يواځې په تفريح او تفرج تېر کړي وو، په دې توګه يو ځل بيا د انګليس او افغانستان تر منځ د جګړې اور بل شو، دا ځل هم همدا د افغانستان ولس و، چې فقط د ملي مبارزې او خپلې زړورتيا په سيوري کې يې دانګرېز لوی دولت او د نړيوالې جګړې ګټونکی قوت له ماتې سره مخامخ او د پرنګي د استعمار په وړاندې يې د مبارزې او خپلواکۍ غوښتنې غړ په ټول ختيځ کې اوچت کړ.

## د افغان – انګليس دريم جنګ (د ۱۹۱۹ کال مې او جون) او د افغانستان خپلواکي

د امير امان الله خان له پاچا کېدو څخه وروسته د افغانستان دولت د لسو ورځو په ترځ کې د ۱۹۱۹م کال د مارچ په دريمه د هند نايب السلطنه لارد چلسفورډ ته يو ليك واستاوه او په هغه کې يې ويلي وو، چې د افغان او انګليس د ۱۹۰۵ کال په تړون کې بايد له سره کتنه وشي. افغانستان د دواړو خواوو د مساوي حقونو په لرلو سره له انګليس دولت سره د يوه نوي تړون لاسليک کولو ته چمتو دی. د افغانستان دولت د دغه وړانديز له لېږلو وروسته د انګليس دولت ځواب ته په تمه پاتې نه شو، بلکې په عملي توګه يې خپلواک سياست غوره کړ، يعنې د شوروي دولت سره د اړيکو د ټينګولو او هغه هېواد ته د خپل سياسي استازي د لېږلو په لټه کې شو. په دې ډول سره د افغانستان د خپلواکۍ له اعلان څخه يوولس ورځې وروسته يو تن استازي د اطلاعاتو د ترلاسه کولو په خاطر بخارا ته او يوه مياشت وروسته يو سياسي پلاوی شوروي اتحاد ته ولېږل شو. دغه پلاوي ته دنده سپارل شوې وه، چې له شوروي او د اروپا له نورو بهرنيو هېوادونو سره سياسي اړيکې ټينګې او يو شمېر تړونونه ورسره لاسليک او هلته يو شمېر استوګن سفيران هم وټاکي. د شوروي دولت هم د خپلې هغې اعلاميې په ترځ کې، چې د ۱۹۱۹م. کال د مارچ په ۲۷مه يې خپره کړه، د نړۍ د لومړني هېواد په توګه د افغانستان خپلواکي په رسميت وپېژندله. شاه امان الله خان د همدغه کال د اپريل په اوومه نېټه د شوروي د ستر لاربښود په نوم يو ليك واستاوه او د اپريل په پينځلسمه نېټه د انګليس د حکومت ليك ورته راورسېد، چې په هغه کې د يوه نوي تړون د لاسليک کولو د اړتيا په هکله ليکنه شوې وه، خو انګليسانو په دغه ليک کې د افغانستان د مارچ د دريمې نېټې د ليک کومه خبره نه وه کړې او نه يې هم د يوه سياسي تړون او د افغانستان د خپلواکي د پېژندلو په هکله څه ويلي وو. د افغانستان دولت پرته له دې، چې په ليکلې بڼه بيا ځلې ټينګار وکړي، په کرار سره يې د هېواد په ختيځ او جنوب کې د سفر بری او د پوځ د سمبالتيا امر صادر کړ او دا اعلان يې هم وکړ، چې له دې کار څخه يې موخه يواځې او يواځې له هند څخه د شورشيانو د راتګ مخنيوی او د پولو ساتنه ده، له دې سره سم يې د اپريل په ۲۰مه نېټه يو بل ليک لينن ته واستاوه او په هغه کې يې خپل نيت داسې څرګند کړ، چې خپل يو استازي (ولي محمد خان) به شوروي ته استوي. البته د شوروي دولت دغه وړانديز ومانه او لينن د ۱۹۱۹ کال د مې په ۲۷مه يو مثبت ځواب ورته راواستاوه، خو تر دې مهال پورې افغانستان له انګرېز سره خپله جګړه پيل کړې وه او برۍ يې هم ترلاسه کړې و، يعنې د مې ۲۷مه (په مسکو کې د لينن د ليک د لاسليک په ورځ باندې ملي

مجاهدینو او افغاني سپاهیانو انګرېزي پوځ ته د پکتیا په محاذ کې ماتې ورکړې وه او په همدغه ورخ یې د دښمن مهم سنګرونه ورڅخه نیولي وو او د افغانستان د خپلواکۍ بیرغونه یې ورباندې رپولي ول، خو د افغانستان دولت، چې له انګرېز سره له جګړې مخکې غوښتل د شوروي له لارې د نړۍ له هېوادونو سره سیاسي او سوداګریزې اړیکې پیل کړي، نه یې شوای کولای، چې ایران ته کومه پاملرنه وکړي، دا ځکه چې ایران په بشپړه ډول د انګلیس د دولت له سیاسي کنترول او نظامي اشغال لاندې و. نو ځکه افغانستان دغه هېواد سره د خپلو اړیکو پیل کول یوه بل مناسب فرصت ته پرېښودل او پرېکړه یې وکړه، چې مخکې تر بل هر څه به خپل حساب له انګرېزانو سره پاکوي، نو د همدغې لپاره یې د انګلیسي هند، د پولو خوا ته پوځونه واستول، حال دا، چې د هند ۳۴۰ زرېز پوځ له خپلو ۱۸۵۰۰۰ بار وړونکو څارویو، د وسپنې پټلۍ د موټرو له لارو، مخابراتو او د لېږد د نورو ټولو وسایلو سره پوره خواك درلود او په ډېره بېړه یې د افغانستان په پولو کې له چترال څخه تر بلوچستان پورې له زر میلو څخه په زیات واټن کې خپلې فرقې د ۳۳ وتلیو جنرالانو تر امر لاندې ځای پر ځای کړې، همدا رنګه جنرال ماتهن د ایران په مشهد کې د انګرېزانو د ځواکونو قوماندان په افغانستان باندې د برید لپاره تیارسئ کړل شو. دا ځکه په هند باندې د افغانستان احتمالي برید کومه لوبه نه وه او د هندوستان د دفاعي کرښې د سوري کېدو په صورت کې د انګلیس تر پښو لاندې ځمکې اور اخیست او په آسیا او افریقا کې یې ټولې مستعمرې چاودلې او دا هغه څه و، چې افغانستان په یوائېتوب سره تر سره کولای شول د بېلګې په توګه همدا، چې افغانستان کله خپله خپلواکي اعلان کړه او د ۱۹۱۹ کال په فروري کې یې، دغه اعلان خپور او د همدې کال په اپریل کې یې د هند د پولو خوا ته سوقیات پیل کړل، سره له دې، چې لا جګړه نه وه پیل شوې او په ډیلي کې افغاني سفیر (سردار عبدالرحمن او په کابل کې د هند د انګلیس سفیر (حافظ سیف الله خان) میشت وو، لومړی د افغاني آزادو سرحداتو (پښتونستان) په اوږدو کې په زرګونه افغانانو وسلې غاړې ته واچولې، او بیا ورپسې د خلکو مشرانو لکه حاجي صاحب ترنګزی او ملا صاحب د چکنور له آزادو سرحداتو څخه افغانستان ته راواوښتل. همدا رنګه د اپریل په پای کې په محکوم پښتونستان کې هم ملي مجاهدین راپاڅېدل او د پېښور په ښار کې یې یوه دوه دیرش کسیزه کمیټه، چې په هغې کې ۹۰۰ تنه انقلابیون سره راټول شوي وو د افغانستان د استازي مرزا غلام حیدرخان (د افغاني ډاك رئیس) شا و خوا راټول او د هغه له مرام څخه یې ملاتړ وکړ او د مۍ په میاشت کې د انګرېزانو په وړاندې د پېښور شاه و خوا پاڅونونه تر سترګو شول. د افغانستان د دولت اعلامیې او د شاه امان الله خان لیکونه د ټولو سرحداتو په اوږدو کې د انګرېزانو د نظامي چونیو د ملیشه او وسله والو سرتېرو په لاسونو کې وو او لاس په لاس ګرځېدل او دوی ټول د شا له لورې د انګرېزانو په لښکر باندې برید کولو ته چمتو وو. آن دا، چې د انګرېزانو لاسپوڅي شجاع الملك مهتر (انګرېزانو دغه سړی په کوچنیتوب کې په ۱۲ کلنۍ کې په ۱۸۹۵ کې د چترال د مهتر په توګه ټاکلی و) هم د شاه امان الله خان له ولوله پاروونکي لیك څخه اغېزمن او یو ځل بیا یې خپلواکۍ ته هیله پیدا شوه. همداسې هم په ټول پراخه هندوستان کې د افغانستان د خپلواکۍ غوښتنې د

Scanned by CamScanner

مبارزاتو چیغه خوره شوه. په لاهور کې خلکو پاڅونونه وکړل او د انګرېزانو له وسله والو پولیسو سره اخته شول. له لاهور څخه امرتسر او کاسوش پورې د ډیلي په دوو مهمو پټلیو کې اړ-دوړ پېښې شوې، تر څو چې په دغو ټولو سیمو کې نظامي حکومت اعلان شو او خلك وځپل شول. په ګجرانواله کې خلك پاڅېدل او د میسونري کلیسا او د وسپنې پټلی یې وسوځوله. په وزیرآباد کې خلکو د انګرېزانو مهم ستیشن سوځاوه او د انګرېزانو او خلکو تر منځ کلك اخ و ډب وننښت. البته انګرېزانو وکولای شول چې د وسلې په زور دغه بې وسلې او کړېدلي خلك خواره واره کړي او هغوی یې په کلکه سره وځپل، خو بیا هم د هند خلکو له بمبئ څخه تر پېښور پورې د وسپنې د پټلیو په اوږدو کې د انګرېزانو په وړاندې فعالیتونه پیل کړل او د اورګاډي تم ځایونه یې ویجاړ کړل. آن دا چې د ډیلي او بمبئ تر منځ هم د خلکو پاڅونونه په احمدآباد کې ولیدل شول او په ډیلي کې د انګرېزانو په ضد پېښې وشوې. په دې توګه د انګلیس دولت یعنې د لومړي نړېوال جګړې سوبمن قدرت د هندوستان د سرو زرو مرغۍ د ساتلو لپاره د افغانستان د امپریالیستي ضد انقلاب د ټکولو لپاره ملا وتړله او د هغوی د لښکرو لوی سیلاو د پولو غاړو ته راورسېد. حال دا، چې افغاني لښکر نه زغره وال ګاډي لرل، نه الوتکې او نه د اوسپنې پټلی. دوی د اوښ په مزله پړاو په پړاو مخ په سرحداتو وړاندې ورتلل او د پکتیا په جبهه کې له شګلنو اوبو او بې پله رودونو څخه تېر شول. دا هغه لارې وې، چې کنډ و کپر وې او دوی خپل جګړه ییز لوازم او آن د توپ ارابې په لاسونو پورې ایستلې. دا ځکه چې د افغانستان دولتونو په تېرو ۸۰ کلونو کې یواځې واك چلولی و او بس، نه یې هېواد ودان کړ او نه هېڅ. د انګلیس دولت نه یواځې د خپل نظامي ماشین په تنویر لاس پورې کړ، بلکې د دوی جاسوسي دستګاه هم د افغانستان د انقلابي فعالیتونو د بې اغېزې کولو لپاره وګومارل شوه. د بېلګې په توګه د هند وایسرا د سرحد د صوبې چیف کمشنر ته امر وکړ د پیسو په ډېر لګښت سره دې د افغانستان په ضد قبایلي خلك راټول کړي. په کندهار کې هم پټ انګرېزي عمال د کورنیو شخړو او اړ-دوړ جوړولو په لټه کې شول او په پلازمینه کې هم تر پردې لاندې ګډوډي پیل شوه، خو ټولې دغه هڅې د افغانستان د خلکو د عمومي ارادې په وړاندې هېڅ هم نه وې.

## د خیبر محاذ

په هر حال، د انګلیس پوځ د خیبر په محاذ کې په دې ډول و: د پېښور یوه پلې فرقه (۱۴ کنډکونه) له یو سپور غونډ سره (درې کنډکونه) ۲۲ توپونه، ۱۰۴ ماشیندار، څو بم غورځوونکي الوتکې، څلور مین ایښودونکي کنډکونه، یو پیش قراول کنډك چې دوه احتیاطي فرقې هم ورسره وې (۲۸ کنډکونه یې لرل) او د دوه سپرې لواوې، حال دا چې له دوی سره د انګلیس سرحدي ملیشه، محافظ او ساخلو سرتیري هم یو ځای وو، په دغه محاذ کې د انګرېزانو د پوځ قوماندانان میجر جنرال کلیمو، میجر جنرال فاولر، بریګیډیر کراګر او بریګیډیر بالدوین وو.

د دوی په وړاندې افغاني پوځ په دې توګه و: دوه پلي غونډونه (۲ کنډکونه) یو سپور کنډك، یو کنډك توپچي او ۴۸ توپونه. ددغه کوچني لښکر قوماندان د افغانستان د جنګ نوی وزیر سپهسالار صالح

Scanned by CamScanner

د ارکانحرب دنده یې دده د نظامي یاور کنډک مشر محمد ګل خان مومند په غاړه وه. محمد خان و، چې له انګریزانو سره د جګړې نقشه داسې جوړه شوې وه، چې د خیبر، پکتیا او کندهار په محاذونو کې به افغاني قوماندانان په یوه ټاکلې نېټه وروسته، د کابل له امر څخه برید پیل کوي. خو سپه سالار صالح محمد خان د خیبر خولې ته له رسېدلو سره سم کله چې د ډیورنډ د کرښې د دواړو خواوو د خلکو ولولې او هیجانات ولیدل، بې له ځنډه یې په برید پیل وکړ، تر څو وکولای شي، چې لومړنی افغاني افسر به وي، چې پېښور ته ننوځي، حال دا، چې له کابل څخه نور روان شوي پوځونه د پکتیا او کندهار په نیمه لاره کې وو. صالح محمد خان د ۱۹۱۹م. کال د مي په دریمه پرته له دې چې په رسمي توګه جګړه پیل شي د خیبر په دره کې یې د تعرض امر ورکړ، حال دا چې تر دې مهال پورې د دغه ولایت خلکو د دولت د لښکر د پیاوړتیا په خاطر نظامي چمتوالي نه و نیولی، خو سره له دې هم افغاني پوځ په ډېر لږ وخت کې له ډیورنډ څخه پورې وت او د لنډي کوتل په جنوب کې یې د کافر کوټ سیمه ونیوله او د باغ، څپر او سپینات څوکې کلي یې هم ونیول. د مي په پینځمه یې د انګلیس یو مرستندوی پوځ لنډي کوتل ته راغی او د مي په شپږمه یې جګړه اعلان کړه. د مي د میاشتې له اوومې څخه تر نهمې پورې د سومرستانو نظامي ډلې او د ساپرو سپاره ځواکونه له خپلو توپونو، تزرو او ماشیندارو سره د جبهې مخې ته شول او بریګیډیر کراکر متقابل برید پیل کړ. د پېښور ښار، چې د افغانستان په پلوي د عمومي پاڅون لپاره ځان برابراوه، د میجر جنرال کلیمو او د انګلیس د سپور او پلي پوځ د غونډ او په نوښار کې د میشت ګورکه وسله والو له خوا کلابند شو. انګرېزانو د پېښور د اوبو سرچینې تر لاس لاندې کړې او په ښار یې اوبه بندې کړې، چې خلک له تندې مړه شي او یا هم تسلیم شي. په دې توګه انګرېزان ښار ته ننوتل. انګرېزانو ډېر ژر د افغاني ډاک مشر مرزا غلام حیدرخان او د انقلابي کمیټې ۲۲ تنه غړي ونیول او په ښار کې یې نظامي حکومت ټینګ کړ. د مي پر یوولسمه د جنرال فاولر او بریګیډیر بالدوین په قوماندانۍ او د جنرال کلیمود ځواکونو او د جنګي الوتکو په ملاتړ سره د لنډي کوتل څخه د انګرېزانو پلیو او سپرو غونډونه بریدونه د توپونو، تزرو او نورو په سمبالتیا سره متقابل برید پیل شو او په دې پسې له راولپنډۍ د انګرېزانو یوه بله نوې مرستندویه فرقه هم راورسېده او د خیبر جګړه کې ګډه شوه. د انګرېزانو د الوتکو له بم غورځولو سره سره افغاني پوځ په زړورتیا جګړه کوله او د تلفاتو په فکر کې نه و، خو د دښمن تلفات زیات و، جنرال سر جورج مکن ددغو زیاتو تلفاتو لامل د مي د میاشتې زوروره ګرمي وښودله.(۱)

هغه مهال، چې جګړه له لنډي کوتل څخه دې خوا ته د افغانانو په ګټه روانه وه او د سنګرونو تر شا اپریدو هم د افغانستان په پلوي د انګرېزانو په وړاندې ملا تړلې وه او محمدعمرخان اپریدي په مېړانه جګړه کوله، تر څو چې له راولپنډۍ څخه یوه نوې فرقه راورسېده، د سپه سالار صالح محمد خان یوه ګوته ټپي شوه. له خپل نظامي یاور محمد ګل خان مومند سره یو خای یې د جګړې ډګر پرېښود او د پوځ د شاته تګ امر یې وکړ. کله چې انګرېزانو دا حال ولید، د جنرال کلیمو د ځواکونو په واسطه یې د خیبر

۱. ددغه جنرال له خوا تألیف شوی کتاب (له دار څخه تر امان الله پورې) څخه. (د لندن چاپ)

د دري خواوې ونیولې او خپل سپاره پوځونه یې د بریګیډیر بالدوین تر مشرۍ لاندې د افغاني ځواکونو د لښکرکوټ (ډکې) خوا ته راوخوځول. انګرېزي الوتکو یو تن چاودېدونکي توکي د جلال آباد په ښار کې د افغاني جبهې شاته وغورځول. د سپه سالار صالح محمد خان او د هغه د یاور محمد ګل خان مومند دغه حرکت، چې ژوندي یې د جګړې ډګر پرېښود او ۴۰۰ افغاني سرتیري د جګړې په ډګر کې پراته وو. د افغانستان د خلکو او ټول اردو د کرکې او سپکاوي وړ وګرځېد، دولت چې ډېر بوخت و، ددې پر ځای چې دغه سپه سالار اعدام کړي، یوازې یې بندي کړ او بس. په هر حال د انګرېز ځواکونه د سپه سالار صالح محمد خان له ماتې وروسته د ډیورنډ له کرښې راواوښتل او ډکه یې ونیوله، د مې په ۱۴مه په خپله جنرال فاولر هم ډکې ته راورسېد. خو د افغاني پوځونو یوې برخې او کنډک مشر محمد صدیق خان په کمکي خیبر کې یوه زغرده حمله پیل کړه او انګرېزي ځواکونه یې مات کړل، چې له ډېرو تلفاتو سره بېرته وتښتېدل، په داسې حال کې چې افغاني ځواکونو هغوی پسې واخیستل. په هغه سبا یو ځل بیا د انګرېزانو له لوري بل برید وشو. دواړو خواوو ته زیات زیانونه واوښتل. د انګرېزانو څو سوه تنه سرتیري ووژل شول او افغاني پوځ په شا راغی. تر دې مهال پورې په ټول ننګرهار، لغمان او کونړ کې خلک راپاڅېدل او له هر لوري څخه ولسي داو طلب سرتیري راټول او د جهاد مشرانو د مجاهدینو ډلې جوړې او د جهاد په تبلیغ یې پیل وکړ، لکه د اسلامپور شیخ پاچا میرصاحب جان، د چکنور ملا صاحب، د کجورې ملا صاحب، میرسید پاچا، سید احمد پاچا، میرزمان خان کونړی، د سرکانو میا صاحب، محمد سعید صاحب او شیرین خان چارباغي. د سروبي عبدالغفار خان. سردار خان مومند، حیدر غازي ساپي، مولوي حبیب الرحمن کاموي، د شینوارو صوفي صاحب زوی، د کونړ سید ګل پاچا صاحب حق خان مومند، محمد امان خان مشواڼی او د شینوارو ملکانو لکه ملک حیات خان، عظیم خان، محمد عالم خان، حضرت خان، میر افضل خان، محمد امان خان، محمد سعید خان، سید رسول خان، سید پاچا احمد خان، عبدالرحمن خان، میرداد خان او نور. دوی ټولو د انګرېزانو په وړاندې ولسي لښکر چمتو کړ. همدا رنګه له کونړونو څخه شیرمحمد خان، محمد معظم خان، اکبر خان، مرزا خان، فتح جنګ، محمد صدیق خان، مرزا جلاد خان اکرام خان، محمد حسن خان مومند، ملا صاحب بابړی، حاجي ترنګزی، شمن روز خان، سکندر خان، فضل ربی خان پکلوي، میرداد خان، صاحب شاه خان اندخان، کټور خان، سیف الدین خان او نور سره یو ځای شول. جلال آباد هم کلک کړل شو او یوه نظامي قطعه د جنرال محمد عمر خان (چې د سور جرنیل په نوم یادېد) تر قوماندانۍ لاندې او د کنډک مشر محمد اکلیل خان بدخشاني تر امر لاندې د باڅول ساتلو ته وګومارل شو، او ددغې جبهې د ښه ټینګولو لپاره له کابل څخه کار پوه کسان، لکه غلام نبي خان څرخي او نور جلال آباد ته را واستول شول. د مې په ۱۴مه انګرېزي لښکر د جلال آباد د نیولو په خاطر له ډکې څخه د باڅول په لور حرکت وکړ، خو هلته کنډک مشر محمد اکلیل خان او سور جنرال محمد عمر خان مخې ته ورته راغلل، دا ډېره سخته جګړه وه، چې خبر له توپ او ټوپک څخه تېره او لاس او ګریوان جګړې ته ورسېده. افغاني پوځ د برچې په څوك د دښمن پلي پوځونه مات کړل او سپور پوځ یې د تسلیمۍ لاسونه پورته کړل، خو افغاني سپرو سرتیرو

Scanned by CamScanner

هغوی پنه وتکول او انګرېزي پوځ تر ډ کې پورې وتښتید، نور نو د جګړې تر پای پورې د دښمن پوځ یو ګام وړاندي رانغی، بلکې یواځې دفاع حالت یې غوره کړ، ولسي داو طلب پوځ چې زرګونه ملي سرتیري پکې راټول شوي وو لا په عمومي برید لاس نه و پورې کړی، چې د خیبر په محاذ کې انګرېزانو اوربند غوښتنه وکړه او د ۱۹۱۹ کال د جون په دریمه د دواړو دولتونو تر منځ اوربند وشو او دغه اوربند د جګړې له پیل څخه یوه میاشت وروسته په پورته نېټه لاسلیك شو.

## د چترال محاذ

له لنډي کوتل څخه دې خوا ته یوه ورځ وروسته تر هغه چې جنرال صالح محمدخان تېبي شو او میدان یې پرېښود (د می په یوولسمه) افغاني ځواکونه له کونړ څخه چترال ته ننوتل او برید یې پیل کړ، دا مهال په اسمارو کې د افغاني عسکرو یوه قطعه وه، چې اوه پلي ټولي، ۱۲ توپونه او د عبدالوکیل خان نورستاني تر مشرۍ لاندې یې د ماشیندارو یوه قوه درلوده. دغه جنرال د می په ۱۲ مه نېټه د چترال د ارنوي او نمبربت په خوا ور روان شو. انګرېزانو په چترال کې یوه ګډه نظامي قوا درلوده، چې په هغو کې چترالي، راجپوت او نوري ملیشا ګډې وې او د چترال د مهتر محافظ ګارد هم ورسره و، چې توپچي ځواك یې درلود. د دواړو خواوو تر منځ جګړه پیل شوه، خو دغه جګړې پرېکنده نه وې، تر څو چې د اوربند د لاسلیك خبر راغی او د افغاني ځواکونه بېرته ستانه شول.

## د کندهار محاذ

په کندهار کې د غونډمشر غلام نبي خان ناصري تر قوماندانۍ لاندې یو پلي غونډ، چې په هغه کې درې کنډکونه پلي او دوه سپاره او توپچي و میشت و. د کندهار والي خوشدل خان نومید، چې د (لوی ناب) په نوم یادید. د پولې په قلعه جدید (سپین بولدك) سیمه کې افغاني ۳۰۰ سرتیري په دریو ټولیو کې د محمدیوسف خان ټولي مشر او داودشاه خان کنډکمشر تر امر لاندې وو او ۳۰۰ تنه نور په سرحدي تاڼو کې پراته وو. د ۱۹۱۹م. کال په اپریل کې د افغان او انګلیس د دریم جنګ له پیل کېدو څخه مخکې له کابل څخه یوه قطعه عسکر د صدراعظم سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله تر مشرۍ لاندې کندهار ته واستول شول.

اعتماد الدوله لا په لار کې و، چې په ختیز محاذ کې د دواړو دولتونو تر منځ د جګړه پیل شوه. دا مهال انګرېزي ځواکونه د کندهار د ځواکونو په وړاندې په لاندې ډول و: یوه فرقه پلي سرتیري (۱۴ کنډکونه)، هندي پلي ځواکونه (۳ کنډکونه) انګلیسي سپور پوځ یوه لوا، هندي سپور پوځ یوه لوا، د وسپنې د پټلۍ محافظ پلي پوځونه (درې کنډکونه)، محافظ سپور ځواك (دوه ټولي) استحکام دوه ټولي، دوه بم غورځوونکي الوتکې او بشپړ توپچي سره له بشپړه وسله تون. په کوټه کې د دوی عمومي قوماندان میجر جنرال واپ شیرو. د می د ۲۲ می شپې له نیمایي وروسته په څلورنیمو بجو انګلیسي دوه پلي

غونډونه او یوه د سپرو قطعه د جنرال هارډي تر قوماندې لاندې له افغاني پولو را واوښتل او د سهار په شپږ نیمو بجو یې افغاني سرحدي کلا تر برید لاندې ونیوله. له دې لامله. چې جنرال د خپل پوځ له زیات شمر سرتیرو څخه پوره ډاډه و او په دې هم پوهېد. چې افغاني ساخلو ډېر کم دي. نو یو استازی یې افغاني ضابط محمد یوسف خان ته له سپین بیرغ سره راواستاوه او له دوی څخه یې د تسلیم کېدو غوښتنه وکړه. خو افغاني سرتیرو سرونه په لاس کې ونیول او د دښمن رالېږل شوی استازی یې د ګولیو په وارونو وشاړه او په خپله دفاع ته ټینګ شول. د دښمن د قوي لښکر تیری او د افغاني عسکرو له زړورتیا ډکې دفاع اووه ساعته ونیول په پای کې د دښمن غونډونو سنګرونه مات کړل او دې پسې د برچې جګړه پیل شوه. د جګړې په پای کې د افغاني ۲۰۰ تنو سرتېرو څخه ۱۵۰ یې ووژل شول او ۱۵۰ نور یې ټپیان په ډګر کې لویدلي وو. چې په دوی کې د قطعې قوماندان کنډکمشر داودشاه خان او ټولی مشر محمد یوسف خان هم د ټپي شویو بندیانو په ډلې کې راغلل او کلا د دښمن لاس ته ورغله په کندهار کې د قلعه جدید د قطعې له منځه تللو د خلکو غوسه وپاروله. غونډ مشر غلام نبي خان ډېر ژر د سفر بري اعلان وکړ. خو خوشدل خان (لوی ناب) چې تر غوند مشر څخه یې واک زیات و. د انګریزانو په وړاندې یې ډېر ژر د کندهار د قوماندانانو د سوقیانو مخه ونیوله. خو اعتماد الدوله چې د غزني په سیمه کې د کندهار په لاره کې مخ په کندهار روان وو، د جهاد شعار ورکاوه او د خلکو له خوا یې ښه هر کلی وشو او خلکو ورسره د ملګرتیا ژمنه وکړه. په غزني کې محمد الله خان هزاره، عباس خان هزاره، شیر احمد خان توري، عبدالله قیاق، ابوالقاسم رساله دار او نورو په جګړه کې د ګډون ژمنې وکړې او د جهاد داو طلبان له اعتماد الدوله سره یو ځای کېدل. سم چې اعتماد الدوله کندهار ننوت خوشدل خان لوی ناب یې له دندې څخه لرې کړ او له کندهار څخه یې وایست او په خپله یې د جهاد په نوم کفن تر غاړې کړ په زرګونه خلك له وسلو او د خپل کور له ډوډۍ سره ورسره یو ځای شول او د دغه ولایت بېلا بېل خلك له خپلو وسایلو سره راټول شول. چې یو شمېر مشران یې دا وو: له ښاروان کلا څخه حاجي عبدالعزیزخان او حاجي محمدامین خان، له الکوزیو څخه حاجي محمد نواب خان، تاج محمدخان، سربلندخان. فیض محمدخان او دین محمدخان، له ارغنداو څخه محمد هاشم خان، له ارغستان څخه حاجي تورخان او محمدانورخان او په خپله د کندهار له ښار څخه عبدالله خان، عزیزالله خان بابي، سیدنورمحمدشاه خان قزلباش محمد اسلم خان بلوچ، حاجي محمد یعقوب خان توخي، حاجي عبدالروف خان کابلی، حاجي محمد ایوب خان کاکړی، داد محمد خان الکوزایی، اخوندزاده فضل حق خان، مولوي عبدالواسع خان. غلام حسن خان، عبدالعلي خان، حاجي خدایارخان بارکزی، حاجي محمدعثمان خان. اخوندزاده محمدرسول خان. اخوندزاده محمدحسن خان. عبدالوهاب خان، فیض محمدخان پوپلزی. عبدالوهاب خان. عبدالحمید خان محمدزی، اخوندزاده عبدالحمید خان، اخوندزاده عبدالحق خان او محمدانور خان او نور...

اعتماد الدوله له دولتي سرتېرو او زرګونو ولسي داو طلبو سره یو ځای د جهاد توغ اوچت کړ او د غزا ډولونه ووهل شول او د پولو خوا ته مخ په انګرېز ورغلل. انګرېزانو چې د افغانستان د خلکو له جګړې

Scanned by CamScanner

ډنه پخوانۍ تجربه او ویره لرله. نو د کور دننه یې ورانکاري پیل کړه او په دې باندې بریالي شول، چې دسنګر شاته په خپله ولس کې شخړې پیدا کړي. دوی په یوه پټ لاس د حنفي پیروانو یو بې ګناه مامۍم وواژه او د سید نور محمد شاه خان قزلباش په سراچه کې یې د ځارویو ډېران کې خښ کړ. دې سره بې ځای یې په کندهار کې پروپاګند پیل کړ. چې دغه سني هلك په قصدي توګه د قزلباشانو په لاس وژل شوی دی او دې خبرې ته یې د مذهبي تعصب رنګ ورکړ او مړی یې هم ټولو خلکو ته وښود. څو تنو لاسپوڅو کاذبو ملایانو د کندهار د قزلباش د قتل کولو فتوا ورکړه او په ښار کې دننه د هېوادوالو تر منځ اخ و ډب پیل شو. له دې سره یو ځای د مجاهدینو په اردو کې هم پروپاګند وشو. چې د کندهار په ښار کې مذهبي جګړه پیل شوې ده او په زرګونه شیعه او سني ښځې او نارینه په وینو کې پراته دي. دا ددې لپاره، چې زرګونه ولسي داو طلب سرتیري اړ کړي. چې د خپلو کورنیو د ساتلو لپاره له اردو څخه راووځي او د جګړې سنګرونه تش شي. حال دا. چې دا کار ونشو. اردو څخه څوك ونه وتل او سنګرونه هم تش نه شول. په کندهار کې هم وطنپاله پوه کسان سره راپاڅېدل او دغه پېښه یې ډېره آسانه حل او غلې کړه. وروسته بیا په کندهار کې ویل کېدل، چې دغه توطئه د کدني د حاکم سلطان محمد خان او خوشدل خان لوی نایب په لاس جوړه شوې وه.

په هر حال اعتماد الدوله له خپل لښکر سره یو ځای پر مخ ولاړ. انګرېزانو افغاني پولې پرېښې وې. د چمن په سنګرونو کې یې د اغزي لرونکو سیمانو شاته موضع نیولې وه. اعتماد الدوله د دښمن تر سیمو ورورسېد او هلته هم د ډیورنډ له کرښې څخه یو نیم میل نور هم وړاندې ولاړ او تر (بغره) پورې ورسېد او د اوبو سرچینې یې ترلاسه کړې. انګرېزانو د اوبو په هکله د لیکونو له لارې له اعتماد الدوله سره اړیکې پیل کړې. د اعتماد الدوله لښکر نه یواځې د چمن بلکې د کویټې قرارګاه ته هم ګواښ پېښ کړ. خو دوی لا توري ته لاس نه و وروړی. چې د دواړو هېوادونو تر منځ د اوربند خبر ورورسول شو او بربکړه وشوه. چې افغاني پوځ دې شل میله بېرته له پولو څخه را واوړي. اعتماد الدوله د دولت دغه امرونه مانه او له شاته تګ څخه یې ډډه وکړه. او د انګرېزانو د قوماندانۍ په ځواب کې یې ولیکل: د دولت اوربند سم دی، خو هغه د انګرېزانو په وړاندې د پوځ د بېرته راګرځولو څخه ډډه نه کوي. بلکې غواړي چې د هندوستان له لارې حج ته ولاړ شي.

## د پکتیا محاذ

له جګړې څخه مخکې افغانستان په پکتیا کې په لاندې توګه نظامي ځواکونه لرل. یو پلي غونډ (درې کنډکونه) یو سپور او یو بل توپچي کنډك و. چې په خوست کې غونډمشر مبارکشاه یې قوماندان و او په علي خېلو کې یې غونډ مشر محمد علم خان افسر و. د ۱۹۱۹م. کال د اپریل په ۲۴مه د پکتیا نظامي ځواکونه د کابل له خوا د دوو پلیو کنډکونو. دوه سپرو ټولیو، لسو توپونو (چې په دې کې دوه توپونه بې هاوتزر ډوله و) په واسطه نور هم پیاوړي کړل شول. د دوی په وړاندې د پکتیا په پوله کې د انګرېزانو نظامي قوتونه په لاندې توګه وو ۱۲ پلي کنډکونه، لس سپاره ټولي. دوه د استحکام ټولي.

Scanned by CamScanner

اووه باتريې توپونه (چې څو دانې هاوتزر توپونه پکې وو) يو شمېر زغره وال موټر او خوبېر غورځوونکي الوتکې. له دې پرته له دوی سره څو مليشا کنډکونه هم ملګري وو. د ۱۹۱۹م کال د مې په مياشت کې دغه ځواکونه د امبالي د غونډ، درېيم ګايډز او دوه پليو بتاليونو، يوه سکاډرون څلور نورو توپونو په واسطه پياوړي کړل شول، په دې پسې وروسته بيا يو رجمنت پلي او بتاليون هم ورسره شول. لږ وروسته پسې دوه پلي بتاليون، يو سپور سکاډرون، څلور نور توپونه او بيا دوه پلي بتاليون دلته راوستل شول او تل ته د مرستې په خاطر حاضر کړل شول. د جګړې په ترڅ کې د جنرال بينون د پينځه څلوېښتم غونډ او له شپاړسمې فرقې څخه مرسته ورته راغله او دوه پنجابي بتاليون او له پېښور څخه د توپچي يوه بتريه، او بله د انګرېزانو اتيايمه بتريه او زيات شمېر وسلې هم دلته راوړل شوې. همدا رنګه د جنرال ډاير څلورم غونډ له څلورو توپونو سره هم راورسېد. د انګرېزانو دومره لوی ځواك د تل په محاذ کې د جنرال اوستاس تر مشرۍ لاندې ځای پر ځای و، چې وروسته بيا د افغانانو په وړاندې د ماتې خوړولو له لامله د غه جنرال لرې کړل شو او پر ځای يې جنرال ډاير راوستل شو. د وزيرستان د انګرېزي پوځ قوماندان جنرال اوډت و، چې هغه هم لکه د جنرال اوستاسې په شان د افغانانو په وړاندې له ماتې سره مخامخ شو او له دندې لرې کړل شو او د وزيرستان جبهه مخامخ په سيده توګه د ټول هندوستان د اردو د عمومي قوماندان لاندې راوستل شوه. په جنوبي وزيرستان کې د ميشتو پوځونو قوماندانۍ ميجر رسل ته وسپارل شوه. د بنو د لښکر قوماندانې له جنرال لوکاس سره وه. په کوهاټ کې دوه سپاره او پلي غونډونه سره له دوو پنجابي کنډکونو او يو ډله ماشينګنو سره ځای پر ځای وو. په پاړه چنار کې دوه سپاره او پلي غونډونه، يوه د ملېشې قطعه او يو توپچي ځای پر ځای و. د کُرمې د مليشه ځواکونو قوماندان ميجر ډاډ و. مخکې تر دې، چې په دغه محاذ کې جګړه په رسمي توګه پيل شي، د افغانستان له لوري د ۱۹۱۹م کال د اپريل په مياشت کې سرحداتو ته سوقيات پيل شول. له دې لامله چې بېلا بېلو سيمو ته د لارې اوږدول او د لارو کړکيچن والي په توپير کې او ماشيني لېږد او سمې لارې هم نه وې، نو ځکه افغاني درې ګونې پوځونه په بېلا بېلو وختونو کې پولو ته را ورسېدل. په دې کې يو يې د کندهار پوځ و، چې د لارې د لرې والي له لامله تر ټولو وروسته ورسېد، چې تر هغه وخته د پکتيا په محاذ کې جګړه پيل شوې وه او پای ته هم رسېدلې وه او اوربند اعلان شوی و. همدا رنګه پکتيا ته لېږل شوي ځواکونه هغه وخت د جګړې محاذ ته ور ورسېدل، چې د خيبر ځواکونو لا د مخه جګړه پيل کړې وه او ډکه يې هم له لاسه ورکړې وه.

په هر حال په پکتيا کې ګومارل شوي ځواکونه د اپريل په ۲۴مه ګرديز ته ورسېدل. د پکتيا د محاذ عمومي قوماندان سپه سالار سردار محمد نادر خان و، چې له ده سره يو ځای لاندې کسان هم وو: سردار شاه ولي خان (چې بيا نايب سالار شو) سردار شاه محمود خان (وروسته بيا جنرال شو) غونډمشر مبارکشاه خان، غونډمشر محمد علم خان، غونډمشر پنين بېګ خان (چې هغه هم وروسته بيا جنرال شو) عبدالقيوم خان پغماني (د توپچي کنډك مشر) کنډك مشر محمد يونس خان لوګری، کنډکمشر محمد عظيم خان، کنډکمشر محمد قاسم خان، کنډکمشر دادمحمد خان لنډی، کنډکمشر نور محمد خان او د خېل کنډکمشر ګل احمد خان، کميدان عبداللطيف خان کميدان محمد ابراهيم خان، کميدان امير محمد خان، کميدان نواب خان پنجشيري، کميدان احمد جان خان کابلی (شهيد) ټولی مشر

Scanned by CamScanner

شیراحمدخان (شهید) تولی مشر فقیرمحمدخان، تولی مشر جلادخان لوګري، میجرمحمدیارخان ګردیزي، میجر خیرمحمدخان، توپچي عبدالحمید خان ساپی او یاور آقا محمدخان لوګری. دوی سره نامتو روحانیون دا و: شمس المشایخ فضل محمد خان مجددي د ټل په محاذ کې، نورالمشایخ فضل عمر مجددي د وزیرستان په محاذ کې، د موسي اخوندزاده صاحب حاجي عبدالرزاق خان اندړ، ملا همزه الله خان، ملا عمر جان خان، قاضي عبدالرحمن خان پغماني، د اتمانزو ملا صاحب، ملا عبدالرشید خان، ملاعبدالمجید صاحب غزنوي او صاحبزاده غلام رسول خان.

د وزیرو نامتو د سرحد مشران: د ملا پیونده صاحب ځای ناستی او زوی شهزاده فضل الدین مسعودي نامتو مجاهد ملك موسی خان، زرخان وزیري (وروسته بیا اعزازي نایب سالار شو) زرین خان شهید او نور...

د پکتیا سیمه ییز نامتو مشران: عبدالسلام خان ستانکزی، ملك محمداکبرخان منګل، لالاپیرخان خوستي، شاه دوله خان، ببرك خان ځدراڼ او د هغه زوی شیرك خان، مهتر یعقوب خان له نورو شلو تنو مخکینو سلیمان خېلو سره، محمدعلم خان اندړ، شیرمحمد خان ګردیزي، حاجي عبدالغفورخان، میراجان خان، عبدالکریم خان، محمد رفیق خان، عبدالوهاب خان او عصمت الله خان زرمتي.

د تنیو او ځدراڼو مشران: جهانګیرخان، جانورخان، میر اسلم خان، میرعلم خان، نقیم الدین خان، شمل خان، دولت خان، بلندخان، ګل صاحب خان، ګلبدین خان، جمعه ګل خان، عبدالکریم خان، سرکي خان، امین ګل خان، ګلدم خان، شیرجان خان، امیرجان خان، اعظم شاه خان، ګال محمدخان، سلطان محمدخان، عبدالله خان، تاج محمدخان، رضا خان، مخی خان، شیرمحمدخان، ناصرخان، سدخان، اکرم خان، بیت خان او ارسلا خان. له احمدزیو څخه: مهربان خان، ګل محمدخان، شهبازخان، صاحب خان، نورخان، ګلبدین خان، نصرالله خان، پیروزخان، ګلدارخان، عبدالوهاب خان، حکیم خان، آدم خان، سروازخان، ګل علم خان، خان محمدخان، میربازخان، وزیرخان، شاه میرخان، نامدارخان، محمدشاه خان او یو شمېر نور...

کله چې سپه سالار محمدنادرخان د ۱۹۱۹ کال د اپریل په ۲۴مه ګردیز ته ورسېد او له انګرېزانو سره یې د جګړې خبره وکړه، په ټوله پکتیا کې یې ملاتړ وشو او د خلکو پاڅون پیل شو. د افغاني قوماندان د سپرلي آس په ټوله لاره کې او په ټوله جبهه کې د ډولونو په غږونو او د ټوپکو په ډزو او د زړګونو نارینه او ښځینه وو له خوا بدرګه کېده او هر کلي ورته وویل شو. داسې برېښېده لکه له انګرېزانو سره د جګړې اعلان چې په دغو اتلو خلکو کې واده ته د تګ په شان وي. په دې توګه که زرګونه وسله وال مجاهدان له ټولې پکتیا، احمدزیو، طوطاخېلو، منګلو، ځدراڼو، ځاځیو، څمکنیو، تنیو، خوست، احمدخېلو، حسن خېلو، هاشم خېلو او خروټو څخه د خپلواکۍ جګړې ته راغلل او په زرګو نو نورو نوم ورکي اتلانو، چې تاریخ یې د نومونو په ثبت بریالی نه شو. بیرغونه وتړل او د جګړې ډګر ته یې ودانګل. عمومي جګړې ته دغه احضارات، لکه هغسې چې په نړۍ کې معمول ده د دولت له خوا او د دفاع یا جنګ د وزارت د احتیاط له لیکو څخه نه و او نه هم د پېچي او یا د دولت په رسمي فرمان او حوالې سره و، او نه هم لکه هغسې چې نوره نړۍ کې دود دی د دوی ډوډۍ او وسله د دولت له خوا ورکول کېده، بلکې عمومي جګړې ته دغه احضارات د افغانستان له ملي ځانګړتیاوو څخه شمېرل کېږي، چې د

تاریخ په اوږدو کې یې له ځانه څخه دغه ډول قرباني د خپلواکۍ د ساتنې او د پردیو د ښکېلو په خاطر ورکړي او ځانونه یې دغه ډول باندې چمتو کړي دي. دا یواځې د افغانستان په رسمي پوله کې دننه نه، بلکې په هر هغه ځای کې، چې افغان و د سند تر غاړو پورې کټ مټ همداسې ملي توپان او ولسي ولولې راپارېدلې وې چې د انګلیس په امپراتورۍ باندې یې د ویرې وزرونه وغوړول شپاړس زره ولسي خلك، چې یوولس زره عصري ټوپك ورسره وو، له مسعودو څخه راغلل. اووه زره تنه له وزیرو څخه. دولس زره له اورکزیو څخه د نامتو مجاهد ملا محمود اخونزاده په مشرتوب او نور زرګونه د خیبر د اپریدو او توریو او نورو قومونو او سیمو اتلان د ختیځ په ټولو سنګرونو کې د پردي یرغلګر په وړاندې مبارزې ته ودرېدل.

افغاني سپه سالار د ۱۹۱۹م. کال د می تر ۱۴مې نېټې پورې د ګردیز په بالاحصار کې دجګړې د نقشې په جوړولو بوخت پاتې شو. په دغه موده کې د افغانستان او انګلیس تر منځ د اړیکو د پرې کېدو خبر د می په نهمه نېټه راورسېد او د می په ۱۴مه د جګړې د سنګر په لوري روان شو. دا مهال د جګړې د رسمي پیل کېدلو څخه د مخه، بل خبر راغی، چې مسعودي جنګیالیو د سروکي په جنګي قشلې برید کړی دی او د انګرېزانو د لېږد ۷۵ اوښان یې ورڅخه نیولي دي. دې پسې بیا د ټنیوخلکو د انګرېزانو د اړیکو تلګرافي مزي پرې کړل او د دوی له خوا په غلو-دانو بار ۲۲۰ اوښان ونیول شول. په دې توګه یوه ولسي جګړه پیل شوې وه او مسعودو د می په شلمه د وانې جنګي کلا کې انګرېزان کلابند کړل په خوست کې هم خلك راټول شول. د پیوار، علیخېلو، توچي او کُرمې په لوري روان شول. سپه سالار په خوست کې د متون په لوري پر مخ ولاړ او تر سپین وام پورې ورسېد او د جګړې محاذونه یې وویشل سردار شاه ولي خان له نورالمشایخ سره یو ځای د وزیرستان جبهې ته ولاړ. سردارشاه محمودخان د پیوارو جبهې ته واستول شو او په خپله سپه سالار د ټل جبهه خپل هدف وګرځوله.

خو په وزیرستان کې: ۲۳ زره مسعودي او وزیري جنګیالیو د وزیرستان ټوله سیمه د اورني نغري او تود سنګر په توګه جوړ او د دښمن مخابرات او د بنو مرکز یې ورته له منځه یووړ. خو یواځې یو رادیویي مرکز یې پاتې و، په دې توګه د دښمن د جنګي سنګرونو او استحکاماتو تر منځ اړیکې پرې شوې او د دوی د آذوقې رسولو اوښان ورڅخه ونیول شول. د دښمن په نظامي قشلو کې سیمه ییزو زرګونو ملیشو پاڅون وکړ. له خپلو وسلو، جبهه خانې او چاودیدونکو توکیو سره یو ځای د دښمن له لیکو راووتل او د جبهې له ختې څخه یې ببرته پر ادښمن ور ودانګل او د انګرېزانو په ځواکونو یې زګوني ګوزارونه وکړل، او انګرېزان د می له شلمې نېټې څخه وروسته د وانې او سپین وام په کلکوټانو کې د مسعودو تر کلابندۍ لاندې راغلل، دمی په ۲۳مه نېټه سپهسالار له خپلو لس زره ولسي داو طلبه پوځ او درې زره منظم پوځ سره چې دوه هاوتز توپونه او اووه ۳۰۰ متري توپونه ورسره وو په سپین وام کې ځای پر ځای شو. دښمن په سپین وام کې خپله قشله وسوځوله او وتښتېدل. افغاني کنډکمشران عبدالقیوم خان او لنډۍ او داد محمد خان سپین وام ته ور ننوتل. د می په ۲۴مه د وانه لویه کلا او سروکي د افغاني ځواکونو په لاس فتح او د ټول وزیرستان په سراسر جبهه کې د انګرېزانو په اردو کې ماتې راغله او دمی په ۲۵ یې په شا ولاړل، خو افغاني په دوی پسې وو. د می په ۲۶مه د انګلیس

Scanned by CamScanner

مرکزونه په توچي کې خلکو تر برید لاندې راغلل. نظامي اردو څخه وار پار خطا شوی و. دا ځکه چې د سند له غاړو څخه نیولې او په ټولو سرحداتو کې افغانان له سندي څخه پورې غاړه د انګرېزانو شړلو ته ملا تړلې ده او له سند سیند څخه د دوی د پورې ایستلو شېبې رالنډې شوې وې. له همدې امله د وزیرستان د جبهې انګرېزي قوماندانان له دندې لرې کړل شول او ددغه محاذ نظامي قومانده او اداره په سیده توګه د هندوستان د جنګ وزرات په غاړه واخیسته. بیا هم د مي تر پای پورې د وزیرستان به شمال کې ټولې انګرېزي تانې لکه وته خېل، شپانه، نېوره او نري توت د مجاهدینو په لاس ونیول شول او د هنګو او میرام شاه قشلې تر کلابندی لاندې راوستل شوې. د میرامشاه ملېشې د صوبه دار پاڅ خان او جمعدار ترین خان تر مشرۍ لاندې پاڅېدې او د میرامشاه کلا یې په نقب والوځوله او له دښمن څخه جلا او د وزیرستان مجاهدینو سره یو ځای شول. انګرېزانو له ویرې په وزیرستان کې ټول ملېشه ځواک ړنګ کړ او د سند په لوري په شا شول. له همدې لامله انګرېزي ځواکونو په وزیرستان کې وانه او توچي او ګومل پرېښودل او مخ په ژوب په شا شول او له ګومل څخه پورې وتل او څلوېښت میله یې منډې وهلې تر څو چې د ژوب په مخه کوټ کې تم شول، دلته یې سنګر ټینګ کړ، خو مخه کوټ هم ډېر ژر مسعودو کلابند کړ، نو ځکه د مخه کوټ انګرېزان په بیړه د سندیمان په لوري وتښتېدل او شپېته میله لار یې ووهله او لرې شول، مسعودو دوی پسې واخیستل او خپل بریدونه یې ورباندې ځواکمن کړل. ملېشو د انګرېزانو لیکې پرېښودې او پاتې وروستي انګرېز هم د مجاهدو په تورو له منځه ولاړ. دې پسې وروسته د ژوب ملېشو هم لښکر کوټ پرېښود او له دښمن څخه جلا شول، ورپسې د خاکار او سپدونکي او مندوخېل او شیراني د انګلیس په ضد پاڅېدل. د هغو جګړو په ترڅ کې، چې دا مهال پېښې شوې د میجر کودن اړوند ټول ځواکونه له منځه ولاړل او په خپله میجر تېښې شو. همدا رنګه انګرېزي سرتیري او ګورکه نظامي ډلې له منځه یوړل شوې. د انګرېزانو لویه قوماندانی په دې لټه کې شوه، چې د سندیمن کلا د ساتنې په خاطر له کوټې څخه دوه نوي پوځونه د سندیمن سیمې ته راولي. دا وخت اوربند وشو، خو وروسته تر اوربند څخه هم د جولای تر میاشتې پورې انګرېزان د مجاهدینو له خوا ټکول کېدل، تر څو چې دوی وکولای شول په ډېرو ستونزو سره په جولای کې ژوب آرام کړي. همدا رنګه د جنوب په محاذ کې ملي مجاهدینو په پښین او بلوچستان کې د انګرېزانو په وړاندې د خرپ او ترپ بریدونه کول، چې په عمومي توګه د سرحد د خلکو دغو بریدونو د ۱۹۲۱ م. کال تر پایه دوام وموند. د وزیرستان جبهې ته هغه وخت له کابل څخه د اوربند امر ورسید، چې دوی دښمن له سیمې څخه شړلی و او مخ په ختیځ د وړاندې تلل، دوی ته یو ناڅاپه امر وشو، چې نیول شوې سیمې باید بېرته پرېږدي. ددغه بې وخته امر له مخې آن په خپله وانه هم بېرته پرېښودل شوه، په دې توګه ماتې خوړلې دښمن زړه وموند، نو ځکه یې په ختیځ کې په ډکې کې خان ټینګ کړ او د ډکې له پرېښودلو څخه یې ډډه وکړه، نو ځکه په وزیرستان کې یو ځل بیا سیمه ییز ولسي ځواکونه پاڅېدل او وانه یې بېرته ونیوله تر هغو یې نه پرېښودله تر څو چې انګرېزانو ډکه پرېښوده. د ملي مجاهدینو بریدونو لا هم دوام درلود. سره له دې، چې دولت د دښمن په وړاندې په

Scanned by CamScanner

رسمي توګه اوربند وکړ، خو خلکو بیا هم د میرامشاه او بنو تر منځ لارې د انګرېزانو پر مخ تړلې وې او سپین وام ورسره و، ټولو ملېشو انګرېزانو سره اړیکې پرېښودې او د وزیرستان مجاهدینو سره یې لاس یو کړ؛ کله، چې اوربند وشو او افغاني ځواکونه بېرته راستانه شول. انګرېز جنرال کلیمو ته دنده ورکړه، چې آزاد سرحدات بېرته ترلاسه کړي. خو د خپل ټول نظامي ځواك سره سره یې د مبارزو خلکو په وړاندې هېڅ هم ونشو کولای. د هغه د ځواکونو معنویات دومره له منځه تللي وو، چې له خپل لښکر کوټ څخه یو ګام هم نشو کولای، چې یوه د کشف قطعه واستوي. د جنرال دومره هم نشوه وتلای. د دوی نظامي قولونه مسعودو ۴-۵ سوه کسیزو وسله والو ډلو په ډېر زړورتوب سره په پرله پسې توګه کړي وې. په بنو، دیره جاتو او یو شمېر نورو سیمو کې هم د خپل او له جنرال کلیمو سره یې اړیکې پرې کړې وې. انګرېزانو وضعیت خراب شوی و.

## د پیواړ محاذ

د پیواړ محاذ ساتونکي پوځونه له سرحد اوږدوالی یوولس میله و او د افغانستان په پیواړ کې د جګړې د جبهې قشله کې و. ددغې کوچنۍ قطعې قوماندان غونډمشر پیواړ څخه یوولس میله وړاندې د علي خېلو په کوچنۍ سرحدي ځواك په دوو پلیو او محمدعلم خان و. د جبهې قوماندان سردارشاه محمود خان دغه کوچنۍ ځواك کولای شول، چې ځان په سپرو ټولیو او دوو غرنیو توپونو سره پیاوړې کړ. البته دومره کوچني ځواك کولای شول، چې ځان په بشپړ ډول قرباني کړي، خو نه یې شو کولای چې د انګرېز په لوی اردو بری ترلاسه کړي، خو له دغې کوچنۍ قطعې سره لوی ملي او ولسي ځواك یو ځای و چې ویې کولای شول یواځې په یوه ورځ کې د دښمن ځواکونه تباه کړي او د هغوی ټولې نظامي مورچې یې ونیولې. دغه ولسي ځواك د احمدزیو، طوطاخېلو، میرزکې، منګلو، ځاځیو او احمدخېلو داو طلب ملي وسله وال خلك وو، چې په خپلو پیسو او لګښتونو یې یو بشپړ لښکر جوړ او له خپلو وسلو سره ډګر ته راووتل. ملي ځواکونه په دریو برخو وویشل شول: لومړۍ برخه د شهیدانو په بندر کې ځای پر ځای شول، چې هغو کې حسن خېل، احمدخېل، هاشم خېل، ځاځي او منګل و. دوی سره کمیدان امیرمحمد، یوه ۲۲۰ کسیزه منظم د دولتي سرتېرو قطعه، څلور توپونه او ماشینګنې وې، چې کنډك مشر محمدعظیم خان یې قوماندان و. دوهمې برخې په سر سرنګ کې ځای ونیو، چې هغو کې خروټي، موتي، ځدراڼ، ځاځي او احمدزي سره له یو ټولي منظم حکومتي عسکرو یو شش پن توپ ګډ وو او قوماندان یې کمیدان محمدابراهیم خان و. دریمه برخه په بالاحصار کې وه، چې لیواني، ځاځي، علي خېل شپتله، علي سنګي، احمدخېل او بیان خېل ورسره و او دوی سره د دولت یو منظم ځواك، چې دوه ټولي عسکر، دوه غرني توپونه او دوه ماشینګنې وې یو ځای و، چې قوماندان یې کنډك مشر محمدقاسم و. له دې پرته دوی سره دوه ډلې د میرزکې منګل داو طلب هم وو. د لوګر، شهیدانو سیمې، بنوزیو، طوطاخېلو نورو داو طلبانو، چې د پکتیا نه وو، هم د جبهې شاته ولاړ وو.

له پولې څخه د پورې غاړې د خروټو او د کُرمې د منګلو مشران هم په څرګند ډول د افغاني جبهې

Scanned by CamScanner

عمومي قوماندان نه راغلل او ویې ویل چې: د جګړې له پیل کېدو سره سم به د دوی خلک له هر چا څخه مخکې په انګرېزي ځواکونو خپل بریدونه پیل کړي. د ۱۹۱۹م. کال د مې په ۲۲ نېټه د انګرېز په یرغل کولو سره د پیواړ جګړه پیل شوه. چې د افغانانو له لوري څخه ښه پوره په مېړانه په شا وتمبول شوه. د مې په ۲۳ سهار باندې د افغاني ځواکونو برید پیل شو او په لږ وخت کې یې د دښمن مقاومت وخاپه او دښمن د ډېرو زیانونو په زغملو سره خپل سنګرونه له لاسه ورکړل او افغانانو ورڅخه ونیول. د خپلو نوي توپچي او ټوپکونو سره سره مخ په تونګي وتښتېدل. هغو افغاني ځواکونو، چې پیواړ په ښه کړي و، په بېړه په وړاندې تلل. د دښمن ځواکونه اړ شول، چې پیواړ پرېږدي او وتښتي. افغان ځواکونه پیواړ څخه واوښتل مخ په شلوزیو پرېږدي او وتښتي. افغاني ځواکونه له پیواړ څخه واوښتل مخ په شلوزیو ورغلل او ماښام هلته ورسېدل او دغه ځای یې د تورې په زور ونیو. په همدغه جګړه کې زړور مجاهد ملك محمد اکبرخان منګل یو شمېر نورو افغانانو سره یو ځای شهید شو. نور افغاني وسله وال لکه د برېښنا په شان په شرینو غونډۍ باندې ورغلل او د یوې خونړۍ جګړې په ترځ کې یې په لړو تلفاتو سره د دښمن مورچلونه ونیول. ټولي مشر شیراحمد خان ددغې جګړې د شهیدانو له جملې څخه و او کنډك مشر محمدقاسم خان هم ټپي شو. له بلې خوا د ځاځیو لیوانی زړور داو طلبان لکه د سیلاو په شان د دښمن د نظامي یوې حاکمې مورچې (تندي سر) باندې ورغلل او هغه یې هم د تورې په زور ونیوله. په دې توګه په یوه ورځ کې د پیواړ په ټوله جبهه کې انګرېزي پوځ مات شو او په تېښته وتښتید. دا مهال د پلازمینې چرګ بې وخته اذان وکړ او دښمن سره یې اوربند اعلان کړ او ددغه ستر ملي پاڅون او ولولو په تودو هیجاناتو یې سړې اوبه واچولې او دوی ته یې د بېرته ستنېدو او د نیولو شویو سیمو د پرېښودلو امر وکړ او د خلکو فداکاره ولسي لښکر راستون شو. خو له دې سره سره دغه امر ته خلکو په ډېره کرکه وکتل او ولسي فداکاره او سربښندونکو غازیانو د دولت له قوماندانانو سره هیڅ خدای پاماني ونه کړه او نه یې هغوی سره خبره وکړه او نه په موسکا ورڅخه را جلا شول. بلکې د یره خپګان او غم سره یې یو ځای هغه نیول شوي ځایونه پرېښودل، چې په خپلو وسلو، وینو او په خپل لګښت یې په پوره سربښندنې سره نیولي وو او خپلو کورونو ته را ستانه شول. خو بیا هم د پوځ قوماندان هغوی ته ورغی او په جګړه او جهاد کې یې د اولی الامر د اطاعت د دیني حکم په هکله یو مفصل حدیث ورته وایه او مصالحه یې ورته څرګنده کړه، خو د ځاځیو لیوانی خپلو د دولت حکم هم ونه مانه او د تندي سر هغه کلکه مورچه، چې دوی په خپل زور او سربښندنې نیولې وه، هغه یې له لاسه ورنه کړه. لکه هماغسې چې په وزیرستان کې مجاهدینو وانه بېرته کلکه کړه وزیرو هم تندي سر کلك کړ. د کندهار ځواکونه هم له اوربند سره سره له پولو را وانه وښتل. د خلکو او ولس د دغه مقاومت په پایله کې د انګرېزانو دولت ډکه پرېښوده او د وانه بېرته ترلاسه کول یې وغوښتل او تندي سر یې هغه وخت بېرته ونیو چې د منصوري د سولې خبرې وشوې او د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژندل شوه.

په هر حال: کله چې ولسي داو طلب پوځ د پیواړ نیول شوې سیمې د دولت په حکم بېرته پرېښودې، نو د پیواړ د تش نه پاتې کېدو په خاطر د سولې د تړون تر لاسلیك کېدو پورې د کنډك مشر نور محمدخان او

کنډ کمشر ګل احمد خان په قوماندانۍ دوه کنډکه منظم عسکر هلته واستول شول او په بالاحصار او ګل غونډۍ کې میشت شول او په دې توګه د پیواړو د جبهې جګړه پای ته ورسول شوه.

## د ټل په محاذ کې

سپه سالار محمدنادرخان د ۱۹۱۹م. کال د مې په ۲۲مه په ناڅاپي توګه له لس زره ولسي لښکر (چې د خوست، وزیرو او نورو جنوبي خلکو څخه جوړ و) او درې زره منظم دولتي پوځ سره، چې دوه هاوتزر توپونه او (ووه نور توپونه یې لرل:د ټل محاذ ته ورسېد. دغو ځواکونو بې له ځنډ څخه د ټل کلی او لوړې سیمې ونیولې او د مې په ۲۸مه یې د دښمن د الوتکو ګولیو تر باران لاندې د ټل جنګي کلا د هاوتزر تر ګوزارونو لاندې راوسته او په بیړه یې د کلا آذوقه، لرګي او د تیلو زیرمه وسوځوله او د بیسیم ستېشن او د وسپنې پټلۍ یې له کار وغورځوله (په همدغه جګړه کې کمیدان احمدجان خان کابلی شهید شو) د "فرانتیر کانستیلري" انګرېز قطعات له خپلو سنګرونو څخه وتښتېدل او د اوبو زیرمې له ګواښ سره مخامخ شوې. د افغاني توپچي ډزې نه غلې کېدونکې وې تر څو چې ټل کلا او د هغې قشلې له منځه ولاړې، ملېشو ځان د انګرېزانو له لیکو څخه را جلا کړ او له ټل څخه ببخي ووتې. په پای کې انګرېزي ځواکونو ټینګار ونشو کولای او له جګړې لاس په سر شول د تسلیمۍ بیرغ یې اوچت کړ، افغاني جنګلیالیو بیرغ ته ونه کتل او خپل برید ته یې دوام ورکړ، په دې توګه انګرېزي سپاهیانو او افسرانو د کلا له بلې دروازې څخه تېښته غوره وبلله او ولاړل. افغاني سوبمن پوځ ټل ته ننوتل او د افغانستان بیرغ یې ورباندې ورپاوه. د انګرېزانو اعلی قوماندان د ټل مات شوي قوماندان جنرال اوستاس له دندې لرې کړ او هغه یې هند ته احضار کړ او له هغه ځایه یې جنرال ډایر دده پر ځای وټاکه: په داسې حال کې، چې افغاني سوبمن ځواکونو د ټل مهمه کلا تر لاسه کړې وه، نو کوهاټ او پېښور یې هم تر ګواښ لاندې راوستي وو. افغاني ځواکونو کولای شول، چې په یوه ځنګیز نظامي تکتیك سره ځان پېښور ته ورسوي او هغه ونیسي او په خیبر کې پراته انګرېزي پوځونه له منځه یوسي او د سند دواړه غاړې ددغې امپراتورۍ ښکېلاك تر پښو لاندې سور اور کړي، خو دا کار ونشو، دا ځکه چې پلازمینې کابل پرته له دې چې د محاذونو له قوماندانانو سره مشوره وکړي، د افغانستان له خلکو سره له سلا او مشورې پرته د انګلیس له خوا د اوربند وړاندیز ومانه او خپلو قوماندانانو ته یې له ټولو محاذونو او نیول شویو سیمو څخه د بېرته ستنېدو امر وکړ او هغوی یې له سرحداتو څخه بېرته په شا تګ ته اړ کړل، نو افغاني سوبمن پوځ خامخا بېرته ستنېدو ته اړ شو او هغه ډېر مهم ځایونه چې د افغانانو په وینه ګټل شوي ود (د ټل کلا په ګډون) بېرته د دښمن لاس ته ولویدل، دا ځکه چې د جبهې شا یعنې مرکزي دولت او دربار سست او له معنوي پلوي کلك نه و.

د جبهې څخه

د افغان او انګلیس د دریم جنګ له پیل کېدو څخه مخکې د افغانستان په پلازمېنه کې له سوق الجیشي پلوه د افغانستان د اردو د سوق او اداري کوم عالي مرکز نه و او د اردو تشکیلات د لوا له څخه پورته نه و، له دې پرته د تجهیز او احضاراتو له پلوه هم د افغانستان اردو ډېر فقیر و بېبرخې نقلیه او دارابه لرونکو وسایلو لارې، مخابرات، تلګراف، تیلیفون او روغتیایي سفري وسایل ماشیني نه لرل. یواځې جلال آباد له مرکز سره د موټرو لارې او د تیلیفون د مزي په واسطه نښلول شوی و. په حال دا، چې د انګلیس دولت له عالي نظامي چمتوالي پرته، په نړیواله جګړه او افغانستان سره د دوو جګړو حربي تجربه هم درلوده او له نظامي، اقتصادي او سیاسي پلوه هم د افغانستان په پرتله پیاوړی و. افغانستان په دغه ډول یوه وضعیت کې له انګلیس سره ونښت، نو ځکه یې د هېواد په درې ګونو محاذونو کې سوقیات او د جګړې اداره همغږې نه وه، د بېلګې په توګه لښکر، چې د خیبر محاذ ته استول شوی لښکر و ۱۹۱۹م. کال د مې په لومړیو کې وسله پورته او جګړه یې پیل کړه، خو په پکتیا کې بیا د همدې میاشتې په پای کې جګړه پیل شوه او د کندهار پوځ هغه مهال په پوله دښمن باندې ورغی، چې جګړه پای ته رسېدلې وه او اوربند اعلان شوی و. خو ددې په وړاندې دښمن د یوې تاکلې نقشې له مخې په ډکه او قلعه جدید برید وکړ، خو په پکتیا کې یې دفاعي وضعیت غوره نه کړ.

په هر حال دغه نا مساوي او نا برابره جګړه چې د افغانستان او انګلیس تر منځ پیل شوه او د هېواد درې ګونې بهات په بشپړ ډول یو بل څخه بې خبره وو او په تیاره کې یې فعالیت کاوه. آن له مرکز سره د دوی ارتباط د لیک او قاصد او ځمکني ډاك په واسطه و (یواځې جلال آباد تیلیفون درلود). مرکز د پکتیا د جګړې ګزارش دوه اونۍ وروسته کندهار ته ورکاوه، چې په دومره موده کې به د جګړې حالت ډېر بدلون موند. له بلې خوا مرکز (کابل) کې مهم لوی لوی افسران او د جنګ عالي شورا نه وه چې وکولای شي ټولو بهاتو ته ځان ورسوي. په دې توګه ددغې مهمې دندې ټول دروند والی په خپله د پاچا په اوږو وو، چې د دواړو لوریو د محاذونو، جغرافیاوي وضعیت او حربي معلوماتو له پلوه بې پانګې و او د جګړې پېښې به د پاچا په یوه نیمه نظامي مشورتي جلسه کې څېړل کېدې. دغه مجلس کې به هغه وزیران کښېناستل، چې له نظامي چارو سره یې ډېره آشنایي نه وه، په دې ټولو کې یو تن چې لږ نظامي چارو سره آشنا و او د پاچا د باور وړ و هغه "محمود سامي پاشا" و. محمود سامي په اصل کې د بغداد و. نوموړی د خمیس خان زوی و. یو ورور یې احمد نومېد او خور یې زروقي نومېده او په خپله یې د استانبول په اعدادي مدرسه کې زده کړې کړې وې او د خورد ضابط (بلوکمشر) په سویه د بغداد په عسکري ښوونځي کې جمناستیك د ښوونکي په توګه مقرر شوی و. وروسته بیا دغه سړی د خپلې خور د وژلو په تور تورن او په بغداد کې یې د انګرېزانو قونسلګري ته پناه وړې وه. په ۱۹۱۴ کې د نقیب صاحب سید حسن آغا په منځګړیتوب دغه سړی افغانستان ته راوستل شو (ددغو نقیبانو سیاسي نکلاره په نږدې ختیځ کې او په نورو سیمو کې ټولو اسلامي هېوادو ته څرګنده ده) او دلته په کابل کې د حربیې د ښوونځي تر مدیریت پورې ورسېد. سردار عنایت الله خان معین السلطنت د هغه وخت د حرب

وزیر یو ځل له افغانستان ځخه وشاړه، خو هغه له یو شمېر ناځرګندو لارو څخه بیا افغانستان ته راغلی و او په شخصي ډول سره له سردار امان الله خان عین الدوله سره پاتې شوی و. کله چې امان الله خان پاچا شو محمود سامي ته یې لومړی د جنرالۍ رتبه او د حربیې د ښوونځي مدیریت ورکړ وروسته یې بیا د نایب سالاري رتبه او د کابل د قول اردو د قوماندانۍ دنده ورکړه. سره له دې، چې نوموړی په هېڅ کورني او بهرني جګړه کې ګډون ونه کړ او داسې یې ښودله چې په نقرس ناروغي اخته دی، خو د نظامي مشورو په مجلس کې به په لومړي کتار کې ناست و او خپل نظر به یې ورکاوه. کله چې کېناز هللي په خپلې الوتکې سره کابل باندې بمونه وغورځول او له دې لامله نظامي مجلس جوړ شو. محمود سامي نظر ورکړ، چې باید د افغانستان پلازمینه له کابل څخه سیغان ته ولېږدول شي، خو دده دغه تخریب کوونکي نظر د مجلس د نورو غړو له لوري رد شو. که نه د هېواد د پلازمینې په بدلون سره به نوی دولت له منځه تللای وای.

په هر حال، امیر امان الله خان چې لکه د خپلو نیکونو په شان په بهرنیو مسلمانانو باندې د باور کولو په مرض اخته وو تر آخره یې محمود سامي د دولت د لویو مشاورینو په ډله کې د کابل د وسله والو ځواکونو په سر کې ساتلی و (سره له دې که دغه بهرنیان به سراسر د بهرنیانو پټ لاسپوځي هم وو، خو افغانستان کې وربانډې باور کېده) محمود سامي د افغانستان د اردو د تنظیم پر ځای د هغې د پرمختګ مخه نیوله او د کابل د حربیې د ښوونځي کارونه یې درول او هغو ترکي لایقو او صادقو ښوونکو سره یې ضدیت ښود، چې د افغانستان دولت هغوی د چارو د اجرا لپاره استخدام کړي وو. د هغه وروستی کار دا و، چې د سقو د زوی د ارتجاعي اړ-دوړ په راوستو کې د هغه چوپړ ته ورغی او بیا د افغانستان نوي دولت نوموړی په همدې جرم اعدام کړ. د جبهې د ختې برخلاف په خپله جبهه کې خلکو او پوځ ډېر عالي معنویات لرل، کله چې د دښمن الوتوکو په پلازمینې بمونه وغورځول، سره له دې چې دا لومړی ځل و، چې خلکو الوتکه ولیده، او د لومړي ځل لپاره د یوه لویدیځ ښکېلاکګر هېواد الوتکې په ختیځ کې یو هېواد (افغانستان) بمباري کاوه، نو د کابل له کورونو څخه د ټوپکو په زرګونه وارونه وربانډې وشول. په دوی کې یو هم جبه دار باشي مرزا عبدالرحیم خان و، چې خپل ټوپک یې د آسمان خوا ته کړ او په الوتکه یې ډزې کولې او له خپل کور (د لاهوري دروازې له کوځې څخه ټوپک په لاس راوون او تر سیاسنګ پورې یې الوتکې پسې ځغاستل او کله یې چې د دښمن الوتکه بېرته راګرځېده ده پر له پسې وربانډې ټکونه کول. افغاني درنو توپونو هم د کابل د لویدیځو غرونو له لمنو څخه د دښمن الوتکه په نښه کړه، خو دغو ډزو کومه ګټه نه کوله، دا ځکه چې افغانستان د الوتکې ضدتوپونه درلود، دا یواځې ځمکني توپونه و، د جګړې په سنګرونو کې هم خلکو او افغاني پوځیانو د دښمن د الوتکو په بم غورځولو پورې د ملنډو خندا کوله، دوی به د الوتکو په راځرګندېدو سره یواځې خوارا واره شول او پر ځمکه به یې پروت کاوه، خو ویره یې نه ورځخه کوله، د همدې خوریدو او پروت کولو له لامله د افغانانو تلفات ډېر لږ و.

Scanned by CamScanner

## لومړنی مظاهره

کله، چې د خیبر په محاذ کې جګړه پیل شوه، د دواړو دولتونو تر منځ اړیکې پرې شوې. د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د حبیبیې او نورو ښاري ښوونځیو زده کوونکو د کابل د ګڼ شمېر اوسېدونکو په ګډون د انګرېزانو په ضد یوه لویه مظاهره وکړه. مظاهره کوونکو د مراد خاني له سړک څخه (د انګرېزانو د سفیر حافظ قرآن سیف الرحمن خان کور همدلته و) په غږ زوږ سره مظاهره پیل کړه او نارې یې وهلې، چې مړه دې وي انګرېزان او ژوندی دې وي خپلواک افغانستان. د انګلیس دولت له ډیلي څخه افغاني سفیر سردار عبدالرحمن خان (چې یو پخوانی مشروطه غوښتونکی و) د هغه له کورنۍ سره په تحت الحفظ بڼه خپلې نیولې شوې نظامي اډې (ډ کې) ته راوست او هلته یې ځان سره وساته. دا یوازې نه، بلکې د انګلیس دولت په ډیلي کې د افغانستان د سفارت ټول اسناد، پاڼې او شتمني او په پېښور کې د افغانستان د نمایندګۍ اسناد او پاڼې ونیولې. حال دا، چې افغانستان ددې په وړاندې دومره سپک کار ونه کړ او د خلکو د غوسې سره سره یې د انګلیس سفارت د هغه له ټولو پاڼو او اسنادو سره وساته. له دې لامله چې انګرېزي دولت له افغانستان سره د جګړې په ترڅ کې په هندوستان کې امپراتورۍ ته د ورپېښ خطر او د افغانستان د خلکو د زړورتیا په هکله خبرو او په دې دواړو خپرو ښه پوهېدل، نو ځکه یې د افغانستان د خپلواکۍ منلو او سولې کولو ته غاړه کېښوده، او په ډکه کې یې د افغاني نظربند سفیر له طریقه د خپل قوماندان په واسطه د خبرو-اترو لار پرانیسته. ددغو خبرو-اترو په ترڅ کې انګرېزانو د افغانستان خپلواکي ومنله او د دواړو دولتونو تر منځ د سولې د اړتیا، اوربند او دوستي په هکله یې خبرې وکړې. سردار عبدالرحمن خان د انګرېزانو له دغو هیلو څخه د پاچا د خبرولو په خاطر کابل ته راغی په داسې حال کې، چې انګرېزانو د هغه کورنۍ او زوی (غلام احمد خان رحماني) په خپله عسکري اډه کې ساتلي وو. سردار عبدالرحمن خان په کابل کې له پاچا سره خبرې وکړې او دولت د انګلیس د اوربند وړاندیز په دې شرط ومانه، چې هغوی د افغانستان خپلواکي ومني او سفیر بېرته ستون شو. انګلسانو د افغانستان د نوي دولت له دغه نرم چلند او تېرُوتنې څخه ډېره غلطه استفاده وکړه او د ډیلي او کابل تر منځ یې د اوربند په هکله لیکونه ولېږل راولېږل. په دې توګه ماتې خوړلیو انګرېزانو په بریالي شوي افغانستان باندې خبره ومنله او ویې ویل چې تر څو د سولې تړون لاسلیک کېږي، نو باید افغاني ځواکونه له پولو څخه شل میله شاته راشي. حال دا، چې مجاهد خلک او د کندهار او پکتیا د محاذونو عمومي قوماندانان ددې خبرې مخالف وو او آن دا، چې په لیکلي توګه یې دغه شرط ونه مانه او دولت یې ددغه بې وخته تصمیم له لامله ملامت کړ، خو د افغانستان پاچا خپل دغه تصمیم څخه چې یوازې د هېواد خپلواکي یې ډاډمنه کوله، تېر نه شو او خلکو او د جګړې د محاذونو له قوماندانانو سره یې مشوره ونه کړه، نو په دې توګه د ۱۹۱۹ کال د جون په دریمه اوربند وشو. په هند کې د افغانستان پخواني سفیر سردار عبدالرحمن خان وروسته تر دې، چې ۱۷ ورځې په ډکه کې ایسار پاتې شو او کابل ته یې تګ راتګ وکړ، پلازمېنې ته راغی.

## د جګړې اوربند

د دولت له خوا د اوربند له اعلان څخه وروسته، افغاني سرتېرو په هېڅ محاذ کې جګړې ته دوام ورنه کړ، خو مجاهد ولس په خیبر او د پکتیا په سرحدونو کې خپلو ملي مبارزو ته دوام ورکړ. په انګرېزانو باندې د جولای په میاشت کې د خلکو فشار د پکتیا په سرحداتو کې دومره زیات شو، چې انګرېزان اړ وتل چې ۱۲ کنډکه سرتیري په ټل کې ځای پر ځای کړي، سره له دې هم له افغانستان سره د سولې او اوربند د تړون تر لاسلیک کېدو پورې انګرېزان ونه توانېدل، چې خپلې نظامي کلاوې او له لاسه وتلې سنګرونه له خلکو څخه ترلاسه کړي، خو دا وروسته له تړون څخه و، چې ورو ورو یې دغه کلاوې بیا ترلاسه کړې، دا ځکه چې نور نو د آزاد سرحد خلك یواځې پاتې وو.

د افغانستان دولت د ۱۹۱۹ کال د جون د دریمې نېټې له اوربند څخه وروسته د انګلیس د دولت پر شمېر لیکونو سره مخامخ شو. د هند وایسرا د بریتانوي سیاسي سلیقې سره سم وروسته تر هغې چې په اوربند کولو بریالي شول، ځانته یې د یوه بریالي شوي قوت بڼه غوره کړه او ورو ورو یې خپلې غوښتنې زیاتې کړې. یوه غوښتنه یې دا وه، چې افغاني پوځ باید په سرحد کې له ډېر نږدې انګرېزي عسکر څخه کم له کمه شل میله باید لرې شي. په تېره بیا د پیواړ په غاښې کې. همدا رنګه افغانان دې هېڅکله د انګرېزي عسکرو د اوسېدو شا و خوا کې ټولنې نه جوړوي. همدا رنګه انګرېزي الوتکې کولای شي، چې، د انګرېزي اډو له پاسه د افغانستان د فضا دننه اکتشافي الوتنه وکړي او د افغانستان دولت باید د افغانستان او د سرحداتو د خلکو د احساساتو له ښکندلو څخه مخنیوی وکړي.

د انګرېز هندي دولت چې لا تر اوسه یې د افغانستان خپلواکي په رسمیت نه وه پېژندلې، په خپلو دغو لیکونو کې یې هماغه پخواني معمول مخاطبات کارول، البته د افغانستان دولت په خپلو ځوابونو کې د وایسرا وړاندیزونه رد کړل او په پای کې یې ورته وویل، چې که چېرې د انګلیس حکومت له دې څخه زیات ټینګار وکړي، نو افغانستان به له سولې او اوربند څخه ډډه وکړي. ددغو لیکونو کاپي ګانې په لاس کې نشته، دا ځکه چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت دا عادت نه دی خپل کړی، چې ددغه ډول اسنادو په خپرولو سره خلك له تاریخي پېښو څخه خبر کړي، خو بیا هم د هند د وایسرا د لیکونو بیا کاپي چې د دولت له خوا په پکتیا کې د جګړې د محاذ رهبرانو ته استول شوې وه، ترلاسه شوه، چې په لاندې توګه ده:(۱)

"د همایوني اعلیحضرت مبارك حضور ته د هند د وایسرا د ۱۳۳۷ق. کال د روژې د ۲۲مې نېټې لیږل شوی لیك، دا چې:

"د هغه مهربان او درانه قدرمن هغه دوستانه ۲۵ نمره لیك، چې په ۱۹۱۹ کال کې د جون په یوولسمه (د ۱۳۳۷ق. کال د روژې په ۱۲مه) رالېږل شوی و او زمونږ د خوښۍ لامل شو، هغه شفقت کوونکې فرمایلي، چې ددغه قدرمن د نیك نیت یواځینی دلیل د اوربند. ددغو ډېرو عادلانه شرایطو د منلو له

۱- د شمش المشایخ صاحب مجددي د اسنادو په دوسیه پورې اړه لري، چې د جګړې په ډګر کې په ټل کې یې ګډون درلود او دا دی اوس دده د زوی محمد معصوم مجددي، په واك کې ده.

Scanned by CamScanner

مخې ثابتولی شي او په یوه شبه کې هغه شفقت کوونکی مکرم خپلې ستونزې یوه یوه د لومړي او دریم شرط په هکله ویلي دي. زما شفقت کوونکی! دغه ستونزو ته مونږ خیر یاستو، خو د هغه شفقت کوونکي په ښه توګه پام نه دی شوی، چې آیا د لومړي شرط موخه څه ده. مونږ دوستدارانو فقط یوه هیله کړې وه، چې د هغه شفقت کوونکي نظامي پوځونه دې له پولو څخه لرې کړل شي داسې، چې د بریتانیا د ډېر نږدې پوځ څخه دې اقلاً ۲۰ میله لرې شي. لکه څرنګه، چې ستاسې دوستدار ته پته ولګېده هغه شفقت کوونکی اوس دغه شرط پر ځای کړی دی همدا اوس په نوي چمن کې دوستدار دا هیله هم لري، چې دا کار ډېر ژر وشي.

همدا رنګه لکه څرنګه، چې دوستدار ته داسې خبر راغلی، چې د افغانستان یو شمېر نظامي پوځونه لا اوس هم زمونږ په سرحد کې شته، په تېره بیا د پیوارو په غاښي کې هغه باید ډېر ژر بېرته بوځئ، تر څو یو تن افغان نظامي هم زمونږ د سرحد خوا ته پاتې وي د سولې خبرې نشي کېدای او بله لاره نشته، مګر دا چې دښمني بیا پیل شي. دوستدار د اوربند په لومړي شرط کې د کلیو د خلکو او قومونو ایستل د دوی له کورونو څخه نه و کړي، خو دوستدار په ټینګه له هغه شفقت کوونکي څخه هیله لري، چې داسې احکام صادر کړي، چې ددغو خلکو هېڅ ډول تاوان به زمونږ د نظامي پوځونو شا و خوا کې نه جوړوي او خلک به نه راټولېږي، که خلک راټول شي او زمونږ پوځونو ته ګواښ وکړي دوستدار خپلو جنرالانو ته دا واک ورکړی دی، چې لازم اقدامات وکړي او هغوی خواره واره کړي.(۱)

د دریم شرط په هکله هغه څه، چې هغه شفقت کوونکي د خپلو ستونزو په هکله ویلي دي دوستدار ورته خیر شو، سره له دې به هم د دوستدار الوتکې خپلې پلټنې جاري ساتي تر څو د دوستدار له هغه شفقت کوونکي څخه هیله لري، چې خپلو خلکو ته بیا بیا تکراري حکم صادر کړي، چې په مونږ تیرې ونه کړي، دوستدار ډاډه یم چې د هغه مشفق احکام به ډېر اغېزمن وي. که چېرې بیا هم زمونږ الوتکو ته سرخوږی پیدا کېږي هغوی به یې چاره وکړي.

هغه مشفق څلورم شرط نه دی فرمایلی، دغه دوستدار ته داسې پته ولګېده، چې هغه مشفق په دې برخه کې لازم کار ترسره کړی، که مو نه وي کړی، نو دوستدار اړ دی، چې هیله وکړي، چې پر ته له ځنډه دا کار وشي دا ، ځکه هغه مهال چې زمونږ تر منځ د سولې خبرې په مخه کې دي، ناممکنه ده، چې قومونه په هیجاني حالت کې او د برید کولو په احساساتو کې پرېږدو، نو دا چې دغه خلک د مشفق له اقداماتو څخه اغېزمن شوي دي، نو دا د هغه مشفق دنده ده، چې دغه خلک بېرته په ښودل شوې بڼه اړ کړي.

۴- په پای کې باید دوستدار هغه مشفق ته په څرګنده ووایي، چې د بریتانیا دولت به خوشحاله نشي که چېرې د دښمنۍ په پرېښودو کې نور په دغو شرایطو کې له دې څخه زیات بدلون راوستل شي، همداسې هم دوستدار د زړه له تل څخه غواړي، چې هغه څه چې دوستدار لیکلي دي هغه مشفق دی د اوس لپاره هغه ومنئ او دوستدار دا هیله لري، چې څه چې مونږ غوښتي هغه په صادقانه توګه پر ځای کړئ، دا ځکه چې د سولې د خبرو اترو بنسټ په همدې خبرو پورې تړلی دی.

۱- دلته انګرېز خان ته (دوستدار) او اعلیحضرت غازي امان الله ته مشفق او شفقت کوونکی وایي (ژ).

Scanned by CamScanner

په دې شرط سره به دوستدار په ډېره خوشحالۍ سره په راولپنډۍ کې د هغه مشفق له خوا ټاکل شوي مامورینو ته د هر کلي لپاره هر ډول احکام ورکړي.

۵- دوستدار جناب جلالتمآب سرهملتن ګرانت صاحب بهادر فارن سکرتري د هندوستان د دولت د بریتانیا د مامورینو (پلاوی) د مشر په توګه غوره کړ، دا په دې تمه، چې هغه مشفق به د دوستدار شرایط ومني، دوستدار به ډېر خوشحاله شي، چې که چېرې هغه ټول کسان (پلاوي) به چې هغه مشفق یې را استوي نو د هغو د راتګ نېټه به د بریتانیا د دولت حربیه حدودو ته مونږ ته څرګنده کړي، تر څو مونږ د هغوی لپاره اړین اقدامات وکړو او راولپنډۍ ته د هغوی د رسولو لپاره چمتوالی ولرو. د بریتانیا د دولت له لوري د مامورینو نومونه به وروسته له دغه لیک څخه هغه مشفق ته واستول شي.

۶- دوستدار له خپل لوري څخه انشاءالله د دواړو دولتونو تر منځ د دوستانه اړیکو د بیا ټینګېدو د روښانه راتلونکي لپاره هیله من دی."

او دا هم د افغانستان د پاچا له لوري د هند وایسرا په نوم لیک:

وروسته تر مقرره القابو.

"د هغه مشفق مهربان دوست له مېنې ډک د ۱۹۱۹ کال د جون د ۲۱ مې (د ۱۳۳۷ق. کال د روژې د ۲۲مې) نېټې لیک د روژې په ۲۷مه را ورسېد. زمونږ د یووالي او دوستي د زیاتېدو لامل شو.(۱) زه هغه دوست د دوستدار خیر غوښتونکو او دوستانه هیلو ته ځیر کوم:

دلته د دواړو دولتونو تر منځ (۲) د اتحاد او د دوستۍ د ټینګښت څخه موخه ده، نو له دې لامله چې د دواړو لوریو هیلې د دواړو لوریو په خیر دي او د سولې په راوستو کې هڅې کول او د دواړو دولتونو د پت ساتل دي. لازمه ده، چې د دواړو دولتنو پام د پخوانیو ټېپونو رغېدو ته واړول شي او داسې هڅې وشي، چې داسې یو وضعیت رامنځته شي، چې پخوانۍ غلط فهمي له منځه یووړل شي، یو نوې دوستي پیدا کوونکی اتحاد او نوې اړیکې رامنځته شي، چې دواړه لوري ورڅخه استفاده وکړي، خو ستاسې وروستی لیک په بشپړ ډول سره هغه هیلې نشي پوره کولای کومې، چې مونږ یې لرو او یو شمېر نیمګړتیاوې پکې شته، چې زمونږ د خپګان لامل کېږي. نو لازمه وبلل شوه، چې د دوستدار هغه نقرات چې د سولې لپاره اړین دي درته ولیکم او هغه څه څخه تاسې خبر کړم کوم، چې د وخت غوښتنه ده. د لومړي فقرې په هکله چې افغاني پوځ به شل میله د بریتانیا له پوځ څخه لرې کېږي،دوستدار لیکي، چې له دې لامله چې د هغه دوست لومړنۍ څرګندونې مې د سولې په هکله سمې وبللې او د دواړو دولتونو تر منځ مو د وینې بهېدو د مخنیوي لپاره غوره وبللې او دغه دوستدار هم د هغه دوستدار

---

۱- دلته بالمقابل د افغانستان د پاچا اعلیحضرت غازی امان الله موخه له دوستدار څخه د معمرلو تشریفاتو له مخې خپل خان او له مشفق څخه یې موخه په دیپلوماتیکه ژبه د هند وایسرای (ژ.)

۲- معمولاً هغه پخوانی نثر، چې له بهرني دیپلوماتیکي او تشریفاتي ژبې څخه ژباړل کېد، ډېر به پېچلی و، دغه ډول لیکونو کې دولتین علیتین د دوو لوریو هېوادو ته ویل کېدل، د امیر عبدالرحمن خان په بحث کې د تړونونو متن کې هم راغلي د، دلته ددغو کلماتو ژباړه راوړل شوې او د روان لوستلو په خاطر له دولتین علیتن دده وشوه، یعنې کافي وبلل شوه، چې استثناءً دلته دواړه لوري ولیکول (ژ.)

خيالات خير خواهانه بولي، نو هغه مې په يقين سره ومنلې. د سولې غوښتونكي ياست او اوربند مو وكړ. نو له دې لامله، چې د هغه مهربان دوست غوښتنې مې په دې هكله كلكې وليدې، نو امر مې وكړ، چې افغاني نظامي پوځونه دې شل ميله له برتانوي پوځ څخه را لرې شي، ما د خپل هېواد په ډېرو برخو كې دغه كارروايي وكړه سره له دې، چې ما د هغه مشفق د ليك په ځواب كې ژمنه هم نه وه كړې، خو دا كار مو وكړ او د چمن د سرحد او د پيواړو د غاښي د پوځونو په هكله مې حكم وركړ، چې ستاسې له پوځ څخه لس ميله رالرې شي تر څو چې خبرې-اترې ترسره شي. په دې توګه ستاسې دغه غوښتنه په بشپړه توګه ترسره شوه. خو د بريتانيا پوځونه د يو شمېر بريدونو د مخنيوي لپاره او د خلكو د ډېرو زياتو احساساتو د غلي كولو په خاطر او له جګړې څخه د هغوی د مخنيوي لپاره لازمه بولو، چې زمونږ د هغې كار روايي په وړاندې چې خپل پوځونه مو لس ميله را په شا كړل او په پيواړ، چمن او نورو سيمو كې مو د شل ميله را په شا كېدو امر وركړی دی، نو تاسې ته هم په كار ده، چې خپل پوځونه د چمن له قلعه نو څخه د چمن خوا ته در وغواړئ او له ډكې څخه يې لواړګي ته دروغواړئ او د خبرو اترو او اوربند د ترسره كېدو تر مهاله خپلو پخوانيو ځايو ته لاړ شئ دا ښه خبره ده او د نړۍ دود هم همداسې دی، چې په اوربند او سوله كې چې د دوو لوريو تر منځ كېږي د دواړو خواوو غوښتنې په پام كې نيول كېږي، نه دا چې يو لوری چې څه وايي هغه به كېږي او د بل لوري به نه منل كېږي دا له انصاف څخه لرې ده. هيله ده، چې تاسې په دې برخه كې غور وكړئ، له دې څخه زيات ستاسې ټينګار وضعيت پيچلی كوي او په دغه ډول فقراتو كې ستاسې له لوري د جزيې ټكيو پيچلي كول او ډېر ليكونه لېږل رالېږل د دواړو لوريو هيلې او غوښتنې زيانمنې كوي او له دې څخه به داسې پايله راووځي، چې موجوده معامله به په بله خوا لاړه شي او د فساد او غلط فهمي لامل به شي. دوستدار ددغه ډول فقراتو ليكل د دوستۍ او خير انديشي لپاره زيانمن بولي او د دولتونو د دوستي لپاره يې لازم نه بولي.

د افغانستان په فضا باندې ستاسې د الوتكو د ګرځېدو په هكله وايم، چې د هغو راتګ دلته هېڅ ګټه نه لري. ستاسې د ټينګار له مخې مې په پولو كې پرتو خلكو او ولسونو ته حكم صادر كړ، چې د اوربند پر مهال ستاسې په پوځونو بريدونه كړي تاسې ډاډه اوسئ، خو ستاسې د الوتكو د راتګ پر مهال خامخا خلك او ولس په غوسه كېږي او زمونږ د ممانعت سره سره د ټوپكو ډزېورباندې كوي او لكه چې مونږ ته څرګند ده بيا به ستاسې الوتكې په خلكو بمونه غورځوي او دوی ته به د مال او سر زيان اړوي او دا به ډېره بده پايله ولري، نو بيا اوربند او سوله ونشوه، بلكې جګړه او دښمني ده. له دې لامله چې دواړه دولتونه د سولې په فكر كې دي او د دواړو لوريو خير ښېګڼه په دې كې ګوري، چې څه ضرور چې داسې يو كار وشي، چې پايله يې ښه نه وي نو تاسې ته وايم، چې په دې ډېر ټينګار مه كوئ، څكه چې دا كومه ډېره ضروري فقره نه ده، له دې لامله چې د بريتانيا د دولت موخه د الوتكو له راتګ څخه يواځې د معلوماتو ترلاسه كول او استكشاف دی، نو زمونږ د خبرې په منلو سره ستاسې د كمپونو شا و خوا امنيت خپله ښه كېږي د الوتكو د راتګ ضرورت نشته پر ته له هغه زمونږ خلكو ته جوش او خروش پيدا كېږي او دا زمونږ د خلكو له خوا د ټوپكو د ډزو او ستاسې له خوا د بم غورځولو لامل كېږي ټول د

له منځه تګ له خطر سره مخامخ کېږو. دوستدار په هېڅ ډول د افغانستان د خاورې دننه ستاسې د الوتکو الوتنه مناسبه نه بولي.

"دا، چې تاسې لیکلي، چې په پولو کې یو شمېر کسانو پنا غوښتې باید ځای ورنه کړل شي، نو په دې هکله باید وویل شي، چې په سرحد کې د ځینو خلکو لمسول کېدل یوائې زمونږ له پلوه نه دي که چېرې کوم وخت په سرحد کې چېرته زمونږ د سرحد ساتونکو ستاسې د سرحد ساتونکو د کارروایي په هکله څه کړي وي. ممکن علت یې ستاسې د سرحد ساتونکو په وړاندې غبرګون وي، خو بیا هم ستاسې د بیا لیکونو له مخې مونږ خپلو سرحد ساتونکو ته ویلي، چې وروسته له دې څخه ستاسې د سرحد ساتونکو په وړاندې له زغم څخه کار واخلي او په دې خیال کې ونه اوسي او که چېرې څوك پنا اخلي، نو په ټوله نړۍ کې همداسې دود دی، چې که چېرې یو څوك یوه دولت ته پنا یوسي په هېڅ صورت بېرته هغه بل طرف ته نه سپارل کېږي، بلکې پنا ورکول کېږي. په دې هکله دې زمونږ هغه دوستان په غور سره نظر وکړي، چې که کوم چا مونږ ته پنا راوړې په څه ډول هغه بېرته در مسترد کړو او څرنګه یې وباسو؟ دا به هم د نړۍ د قوانین خلاف وي او هم به له انسانیت څخه بهر خبره وي. له دې پرته د مذهب پر اساس هم پناه اخیستونکي ته چې په هر مذهب وي او یوه مسلمان هېواد ته پنا راوړي هغه ته پنا نه ورکول او د هغه ایستل هېڅ جایز نه دي. دغه ډول فقرات ذکر کول له دې اضافه د سولې او د خبرو-اترو هغه مجلس پورې اړه لري، چې د دواړو دولتونو تر منځ به جوړ شي او ددې خبرو تصفیه کېدل به په دغه مجلس کې هغه وخت وشي او د خپل هغه مهربان دوست پاملرنه دې ټکي ته را اړوم چې په دغه ډوله ټکیو باندې ډېرې خبرې کول په داسې یو نازك وخت کې پرته د وخت له ضایع کولو بله معنا نه لري که چېرې د بریتانیا د دولت موخه او خیال سوله وي په دغو جزیې ټکیو ډېر غږېدل څه فایده؟ خو که چېرې مو موخه سوله نه وي، نو مونږ ښه پوره پوه کړئ، چې مونږ هم ستاسې په مدعا خبر شو. دوستدار ته له دې فقرې څخه تعجب پیدا شو، چې له یوې خوا هم مهرَبان دوست د لیك د لېږلو له لامله خوشحالي څرګندوي او خپله موافقه څرګندوي او د دواړو دولتونو تر منځ د د دوستۍ د لا زیاتېدو هیله څرګندوي. خو له بلې خوا بیا د یوې موقتي سولې او اوربند په هکله دومره زیات وړو وړو خبرو پسې ګرځي، چې ددغه دوست دولت ته یې کومه ګټه نشته، بلکې تر هغو نه د افغانستان دوستي ورته په ګټه ده، خو تاسې دغې ګټې ته نه ګورئ کوچنی ټکی ډېر سختوئ له دې پلوه مونږ ته د وخت د غوښتنې برخلاف تشویش پیدا کېږي. دوستدار هغه مهربان دوست په افسوس سره لیکي، چې ددغه وضعیت پایله به دا شي چې مونږ له سولې څخه مخ واړوو. خو که چېرې په رښتیا سره تاسې روغه او سوله غواړئ نو دا خبرې پرېږدئ. د افغانستان خپلواك دولت له کلونو کلونو راهیسې د بریتانیا له دولت سره سوله غواړي، دا هیله باید پرې نشي او په دښمنۍ یې مه بدلوئ.

"دوستدار تل دا هڅه کوي، چې د دلتونو تر منځ اتحاد او د دوستۍ اړیکې پر مخ بوځي او ښه بریالیتوبونه ولرو او دا، چې د بریتانیا له لوري څخه د پلاوي د مشر په توګه جناب جلالتمآب فارن سکرتري سر هملنتن ګرانت صاحب مقرر شوی دی وپوهېدو، ډېر ښه کار وشو او د زمونږ د نوږد

ماموریتو د تاکلو په هکله هم تاسې ته خبر درکوو او د افغانستان د پلاوي په هکله مو چې پخوا خبر درکړی و، د راتګ لپاره چمتو دي او تاسې به هم خپل مامورین را وپېژنئ تر څو دوی یو بل سره خبرې اترې وکړي دغه پیچیده ګي او غلط فهمي، چې تر منځ پیدا شوي دي ټول حل کړي او معامله په یوه ډېره ښه بڼه، چې د دواړو لوریو خیر پکې وي حل شي او د دواړو دولتونو لپاره پتمنه وي. هغه پلاوي، چې د ګران ورور علي احمد خان صاحب په مشرۍ درځي او نوموړی د دوستدار د دولت د کورنیو چارو د وزارت ناظر دی هند ته در رسېږي. د دوی ټول شمېر د عمله او نظامي ساتونکو په ګډون ۱۵۰ تنه دي، چې په لاندې ډول دي: نظامي ۸۰ تنه (۳۰ تنه سپاره او ۵۰ تنه پلي)، نور عمله ۷۰ تنه. د دوی د راتګ نېټه به هغه مهربان دوست راته وټاکي، چې په هماغه نېټه د هغه د دولت پولو ته در ورسېږي. فی سلخ شهر رمضان المبارک ۱۳۳۷ هجری.

## د راولپنډۍ د سولې قرارداد (د ۱۹۱۹م. کال د اګست اتمه)

وروسته تر دې، چې د هندوستان د انګلیسي دولت او افغانستان تر منځ د یو شمېر لیکونو استول را استول وشول. په پای کې یې د افغانستان یو د سولې پلاوي (هیئت) د لوی نایب خوشدلخان د زوی د کورنیو چارو د وزیر علی احمد خان په مشرۍ د جولایي په میاشت کې هند ته ورغی. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د علي احمد خان له لېږلو سره موافق نه و او همدا رنګه عبدالهادي خان داوي، چې په خپله د هیئت غړی و، له اعلي احمد خان سره د تګ او له هغه سره د همکارۍ څخه ډډه وکړه، خو علي احمدخان د پاچا له مور سره د نږدې خپلوۍ په واسطه د پاچا د باور وړ ګرځېدلی و. ډاکتر عبدالغني خان هندوستانی (د پخوانیو مشروطه غوښتونکو غړی) چې مخکې د افغانستان د روڼ اندو تر شك لاندې راغلی و، هم په دغه پلاوي کې د ژباړونکي په توګه وټاکل شو. دغه هیئت د جولای په ۲۵مه نېټه راولپنډۍ ته ورسېد او هلته له فارن سکرتري سر هملتن ګرانت سره، چې د انګرېزي هیئت مشر و، په خبرو بوخت شو. د خبرو په پایله کې د ۱۹۱۹م. کال د اګست په اتمه د دواړو دولتونو تر منځ یوه د سولې معاهده د علي احمدخان او هملتن ګرانت له خوا لاسلیك شوه، چې په لاندې توګه یې پېنځه توکونه لرل:

د ۱۹۱۹م. کال د اګست د اتمې (د ۱۳۳۷ د ذیقعدی د ۱۱مې) نېټې د سولې تړون، چې د افغانستان د خپلواك دولت او د بریتانیا د دولت تر منځ په راولپنډۍ کې لاسلیك شو، په هغه کې د افغانستان او بریتانیا دولتونو لاندېنۍ ژمنې د سولې د بیا نوي کولو په خاطر ومنلې:

**لومړی توک:** د افغانستان او د بریتانیا د دولتو له لوري د دغه تړون د لاسلیك کېدو له ورځې څخه به د دواړو تر منځ سوله ټینګه وي.

**دوهم توک:** نظر هغه حالت ته هم د چې له لامله د بریتانیا او د افغانستان د دولتونو تر منځ جګړه پیل شوې وه، د بریتانیا دولت یوازې همدومره خپل خپګان له دې لامله څرګندوي، چې د افغانستان پخوانیو واکمنو ونشو کولای وسلې او نور د حرب وسایل د هندوستان له لارې افغانستان ته راوړي

اوس د هغه رعایت سلبوي.
**دریم توک:** له دې پرته د مرحوم امیر د عطیې وجه چې پاتې ده ضبط شوه او اوسني امیر ته به هیڅ عطیه وجه ورځخه ورنه کړل شي.
**څلورم توک:** په یوه وخت کې د بریتانیا دولت غواړي، چې هغه پخوانۍ دوستي چې په دې دوه او درې موده کې د افغانستان او لویې بریتانیا تر منځ موجوده وه یو ځل بیا برقراره شي. په دې شرط، چې دغه دولت به دا ترلاسه کوي، چې د افغانستان دولت غواړي، چې د بریتانیا د دولت دوستي یو ځل بیا ترلاسه کړي، همدا رنګه په دې شرط چې د افغانستان دولت به د اخبره په وینا او عمل کې ثابتوي. د بریتانیا دولت به چمتو وي، چې وروسته تر شپږو میاشتو څخه به د بل هغه تړون او نورو هغو خبرو لپاره د افغانستان له لوري یو بل سفارت ومني تر څو د دواړو دولتونو د ګټو ساتونکی وي او پخوانۍ دوستي یو ځل بیا ټینګه کړي.
**پنځم توک:** د افغانستان دولت د هندوستان او د افغانستان تر منځ سرحد، چې مرحوم امیر منلی و، منی(۱) او دا ژمنه هم کوي، چې د خیبر لویدیز ته ناتحدید شوی سرحد چې په هغه باندې په دې وروستیو کې د افغانستان له لوري برید وشو، هغه به د بریتانیا د دولت د یوه کمیسیون له خوا د برژر تحدید (په نښه) شي(۱) او د هغه برید او کرښه به، چې د بریتانیا د دولت کمیسیون وټاکي وبه منل شي(۱) د بریتانیا د دولت سرتیري به له پولې دې خوا ته په خپلو اوسنیو سیمو کې پاتې وي تر څو، چې ددغو حدودو تحدید ترسره شي.
- علي احمد د داخلې ناظر او د افغانستان د دولت د واکمن هیئت مشر
- سر هملتن ګرانت د هند د دولت فارن سکرتري او د بریتانیا د دولت د سولې هیئت مشر.
د دغه تړون له مخې د انګلیس دولت د یوه بریالي قوت په څېره کې د هغې سولې پر ځای، چې خپله یې غوښتې وه، د هغې پر ځای یې د افغانستان په بریالي شوي دولت باندې یو شمېر شرایط وزغمل، یعنې د هند له لارې یې د هغه د جنګي مهماتو ترانزیتي حق ورختم کړ او له سوق الجیشي پلوه یې د خیبر د درې په شمال کې د افغانستان اړوند د (زمان چپر) حاکمه څوکه د هغه غره د اوبو چینو سره یو ځای د تورخم هاخوا ونیولې، خو د هغې پر ځای یې یوه وچه تړانګه ځمکه افغانستان ته پرېښوده، یعنې انګلیسانو خپل نظامي شکست په یوه سیاسي فتح باندې جبران کړ. د افغانستان له لوري د بل جنګ د مخنیوي لپاره ګرانت علي احمد خان ته یو یادداشت هم ورکړ، چې په هغه کې یې لیکلي وو: ددغه تړون له مخې او ددغه یادداشت سره سم افغانستان رسماً په خپلو کورنیو او بهرنیو چارو کې خپلواک پاتې کېږي، له دې پرته پخواني ټول تړونونه ددغې په واسطه منسوخ بلل کېږي. علي احمد خان ددغه تړون په لاسلیک کولو کې تېروت، په دې توګه تړون د انګرېزانو په ګټه ترسره شو. حال دا، چې هند ته د علي احمد خان تر لېږلو د مخه د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د وزیرانو د مجلس په تصویب سره او د پاچا په لاسلیک هغه ته یو بشپړ تفصیلي دستورالعمل ورکړی و، چې په دغه دستورالعمل کې ددغه پلاوي د تګ اصلي موخه، د واک حدود. او د موافقې د واک او صلاحیت حدود ټاکل شوي وو. په دغه

دستورالعمل کې دغه سرلیکونه وو: په سوله کې اصلي د پام وړ ټکي، د سولې لپاره زمینه. وارده اعتراضات او د مدافعي اصول. د سولې د سفارت د هیئت نظامنامه. د سولې شرایط. د لاسلیک کوونکی تحریري وینا او د خبرو پیل. دا ټول په څو پاڼو کې د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر طرزي په قلم لیکل شوي وو، چې څرګند او جامع هدایات وو. د بېلګې په توګه د سولې د سفارت د هییت د نظامنامې تر سرلیك لاندې په څلورم توك کې دوی ته په څرګند ډول روښانه شوې وه، چې په مهمو مسایلو کې د هیئت د ټولو غړو رایه شرط ده. په پنځم توك کې ورته لیکل شوي وو، چې دغه د سفارت هییت یواځې باید همدومره خبرې وکړي کوم چې ورته واك ورکړل شوی دی، له هغه زیات دې له مرکز څخه معلومات واخلي.

په شپږم توك کې دا ډول اخطار ورکړل شوی و: هغه څه چې له هغه کم نه شي منل کېدای هغه د افغانستان خپلواکي او د سرحدي سیمو په هکله یو شمېر آزادي ګانې دي. د پلاوي د واك د حدودو او اختیاراتو په هکله "د سولې شرایط" تر سرلیك لاندې ورته امر شوی و، چې: له بریتانیا سره زمونږ سوله لاندنیو شرایطو پورې تړلې ده: لومړی د افغانستان خپلواکي، دوهم د سرحد د خلکو د حقونو ساتنه، دریم د جګړې د تاوان اخیستل په هر نوم چې وي. ددې په وړاندې افغانستان د هغه تړون لاسلیك ته چمتو دی، چې خپلواکی ته یې زیان وانه رسوي. د خبرو د پیل تر سرلیك لاندې ورته لیکل شوي وو:

"...(د یوه نوي بل راتلونکي جنګ احمال) د حتمي شیانو څخه باید انکار ونشي هغه زیانونه چې د یوې ویجاړونکې جګړې له امله دوو غاړو ته ورپېښېږي ډېر دردوونکی او ناورین څخه ډك دی. مونږ نه وایو، چې افغانستان به خراب شي، بلکې مونږ وایو چې انګلستان او هندوستان به دواړه په هندوستان کې سره یو ځای ومروړي. په خپله حضرات هیئت کرام (یعنې انګرېزي پلاوي) دې تاریخ ته وګوري او په دې پوهېږي، چې د یوه ښار نیول په افغانستان کې په پیل کې آسانه ښکاري، خو ساتل یې بیا ډېر ګران کار دی... د افغانستان خپلواك دولت په هره شېبه او هر وخت کې یو فوق العاده استعداد لري، چې د آسیا په زړه کې لکه په نږدې ختیځ کې د جاپان په شان یو هېواد جوړېدای شي. له دې لامله چې ددې ډول یوه دولت دوستي، په دغسې یو مهم وخت کې چې د بریتانیا راتلونکی بېخي ګونګه ده د انګلیس لپاره ډېره مهمه ده، نو ددغې دوستي ترلاسه کول او ددغه قوت پېژندل د بریتانیا لپاره هغه وخت ترلاسه کېږي، چې د افغانستان غوښتنې ومني... یو بل سره د خپلواکو هېوادونو اوسېدل ډېر ګټور دي نظر دې ته چې په بل ډول سره اووسېږي. په هغو دوه-درې کلونو کې چې بریتانیا په اروپا کې د خونړۍ جګړې په ګرداو کې راګیر وه، د سرحد خلك په ډېر جوش او خروش راغلي وو، چې تاسې ته په خپله معلومه ده، خو افغانستان ستاسې د نتواتي او زاریو له مخې هغوی غلي کړل او ټول سرحد یې بېرته په کرار کړ، نو له همدې فقرې څخه ښکاري، چې د بریتانیا دولت په هغوی باندې د نفوذ او حمایت حق تسلیم کړی وای. په ذاتي توګه دلته د ژبې او خپلوۍ او ګډو ګټو شتون هم د پام وړ دی. له دې پرته په خپله د سرحد خلك غواړي، چې له افغانستان سره اووسېږي که ددې مدعا اثبات غواړې، نو د هغې بیان وشو..."(۱)

۱- ددغه دستورالعمل یوه کاپي د شمس المشایخ صاحب مجددي د اسنادو له مجموعې څخه ماته راکړل شوې وه.

علي احمد ددغو ځرګندو هدایتونو سره سره د سولې تړون د افغانستان په زیان لاسلیك کړ او د برېالي شوي هېواد د حدودو د ټاکلو واك يې يوه ماتې خوړلي هېواد ته ور پرېښود او په خپله کابل ته راغی. مځکې تر دې، چې علي احمد خان محاکمه او په رسمي توګه محکوم شي، پاچا هغه خائنه راوغوښت او ښه وربانديې په غوسه شو، خو هغه کومه وروستۍ سزا يې چې ورته وټاکله يواځې او يواځې توقيف کول و او هغه هم دده په شخصي ودانۍ کې. وروسته بيا علي احمد خان په ۱۹۲۱م. کې د پاچا له خوا عفو شو او بيا يې د پاچا له خور سره واده وکړ او په يو شمېر لويو دريځونو کې مقرر شو، همدې سړي بيا په ننګرهار ولايت کې په داسې وخت کې د پاچاهۍ اعلان وکړ، چې پاچا امان الله خان په کندهار کې موجود و، خو خلکو هغه ونه مانه او ماتې يې ورکړه او لوټ يې کړ تر څو، چې له ډېورنډ ځخه پورې غاړه وتښتېد، خو کله چې شاه امان الله کندهار پرېښود، علي احمدخان غوښتل، چې يو ځل بيا خلك و آزمايي او کندهار ته راغی خپله پاچاهي يې بيا اعلان کړه، خلکو دا ځل هغه د سقو د زوی لښکر ته ور حواله کړ او په کابل کې ووژل شو.

په هر حال، د انګليس دولت چې په سنګر کې د افغانستان له خوا مات شوی و او د هغه خپلواکي يې وپېژندله، نو ددغه شکست د جبران کولو په خاطر يې خپل پام ايران ته واړاو او د راولپنډۍ د تړون له لاسليك کولو ځخه يوه ورځ وروسته يې د ۱۹۱۹م. کال د اګست په ۱۹مه نېټه يې د ايران د صدراعظم وثوق الدوله په لاس د ۱۹۱۹م. کال نامتو تړون د ايران په خلکو ومانه. ددغه تړون پايله داوه، چې د انګليس دولت خپل يو شمېر مشاورين له متناسبو واکونو(۱) سره، خو د ايران په لګښت سره د هغه هېواد ادارو ته ورکړل (دوهم توك). همدا رنګه د انګليس دولت به يو شمېر خپل نظامي افسران بيا هم د ايران په لګښت د يوه متحدالشکله نظامي قوت د جوړولو لپاره ايران ته ورکوي (دريم توك) د انګليس دولت به ددغو دوو توکونو د لګښت د پوره کولو په خاطر ايران ته پوره اندازه پور ورکوي (څو) ددغه پور تضمين به د ايران د ګمرکونو عايدات وي سره له نورو عوايدو به انګليس ته ورځي.

د منصوري خبرې-اترې (۱۹۲۰م. کال): د راولپنډۍ د سولې له تړون ځخه وروسته د افغانستان دولت د هند انګليسي دولت ته د مساوي حقونو پر بنسټ د يوې بشپړې معاهدې يا تړون په هکله ډېر زيات ليکونه واستول او انګليسي حکومت د راولپنډۍ د تړون د څلورم توك سره سم خبرو-اترو ته چمتوالی وښود، نو ځکه د محمودطرزي هيئت د ۱۹۲۰م. کال د اپريل په ۱۲مه نېټه هندوستان ته روان شو. د پلاوي نور غړي دا وو:

عبدالهادي داوي د سرحداتو مامور او د پلاوي د مشر مرستيال، غلام محمد د سوداګرۍ وزير، ملکي بريګد؟ ديوان نرنجنداس، کرنيل پيرمحمدخان تره خيلی، په هند کې د افغانستان د نماينده ګۍ مستشار غلام صديق خان چرخي او يو د ليکنې هيئت لکه مرزا غلام معروف خان د بهرنيو چارو د وزارت محاسب، د بهرنيو چارو منشي مرزا باز محمدخان او د سوداګرۍ د وزارت منشي مرزا محمدنعيم خان. دغه پلاوي د هند د ديرۍدون په منصوره کې له انګليسي هيئت سره خبرې-اترې پيل کړې.

د افغانستان پلاوي د خبرو بنسټ د افغانستان د خپلواکي پېژندنه او د انګليس له خوا يې تصديق

کول، د اړیکو بیا نوي کول او د دولتونو د حقونو د مساواتو پر بنسټ د نویو تړونونو رامنځته کول ور، خو انګرېزان چې د هندوستان د خلکو له خپلواکۍ غوښتونکو مبارزو سره مخامخ شوي وو، د دواړو هیئتونو تر منځ خبرې پټې او د هغو د پایلو له خپرولو یې ډډه وکړه. انګلیسي دولت د دغه څلورو میاشتینو خبرو-اترو په موده کې هېڅ ډول صمیمیت ونه ښود او د افغاني پلاوي د هر روښانه او څرګند مطالب یې نورو راتلونکو خبرو-اترو ته ځنډول او هر څه یې ګونګ ښودل او له خبرو بلې خوا ته تلل په پای کې افغاني هیئت د جولاي په پای کې پرته له دې، چې کوم تړون یې لاسلیک کړي وي، راستون شو او د ۱۹۲۰م. کال د اګست په لومړۍ باندې کابل ته را ورسېدل. محمود طرزي په هند کې د اوسېدو پر مهال د شرقیه علومو د یو ښوونځي د پرانیستلو په هکله د افغانستان له دولت څخه د مرستې د غوښتلو او د یتیم خانې جوړولو ته مثبت ځواب ووایه او خلکو خوښي څرګنده کړه او د منصورۍ په جومات کې یې خلکو ته ډاډ ورکړ، چې افغاني پلاوي به د اسلامي سپېڅلو ځایونو د ساتنې په خاطر او د انګرېز له لاسوهنې څخه د هغو د ډاډمنتیا په خاطر له انګرېزانو سره خبرې وکړي. د هند د روهلکند د خلکو استازي هم. محمود طرزي ته یو لیک راواستاو او د هغه په ترڅ کې یې د هند او د هند د مسلمانانو هیلې د افغانستان پاچا ته څرګند کړې وې.

انګرېزانو د خبرو-اترو له پرې کولو او له منصوري څخه د افغاني هیئت له راستنېدو څخه وروسته وکتل، چې د افغانستان دولت په بشپړ ډول خپلواک دی، لکه هماغسې چې د ۱۹۱۹م. کال په ترڅ کې شوروي دولت د مارچ په ۲۷ مه د دغه هېواد خپلواکي په رسمیت پېژندلې وه او د مۍ په ۲۸مه په تاشکند کې د دغه هېواد سفارت پرانیستل شو، همدا رنګه د افغانستان سفیر د اکتوبر په لسمه په مسکو کې او د شوروي سفیر په کابل کې د دسمبر په ۱۴مه راورسېد. تر څو چې ۱۹۲۱م. کال په لومړیو کې (د فرورۍ په ۲۸مه) د افغانستان او شوروي تر منځ د دوستۍ یو تړون لاسلیک شو. دوه ورځې وروسته بیا په مسکو کې د افغانستان او ترکیې تر منځ د دوستۍ تړون لاسلیک شو (دا ځکه چې د ترکیې جمهوري دولت د لوېدیځو دولتونو په ملاتړ د یونان په وړاندې په مبارزه بوخت و او د شوروي دولت هم له سپینو ځواکونو سره بوخت و، چې د انګرېزانو له خوا یې ملاتړ کېد) او دوی یوې حیاتي جګړې سره مخامخ وو، نو ځکه دواړه له افغانستان سره د دوستانه اړیکو غوښتونکي وو. له بلې خوا د افغانستان د فوق‌العاده سفارت هیئت (محمد ولي خان) ته په اروپا (جرمني، فرانسه او ایتالیا) کې ډېر تود هرکلی ووېل شو او هلته هم د افغانستان خپلواکي وپېژندل شوه (محمد ولي خان په دغه سفر کې له دوستو هېوادو سره یو شمېر قراردادونه ترسره کړل او هلته یې افغاني سیاسي استازي وټاکل)، یوازې د امریکا د متحده ایالاتونو دولت لکه د انګرېزانو په شان د افغانستان د خپلواکۍ پېژندنې په برخه کې تعلل کاوه. ځوانو ترکانو په افغانستان کې خدمت ته ملا وتړله او د هندوستان انقلابیونو هم په هند او هم دننه په افغانستان کې خپلې هیلې افغانستان پورې وتړلې او سترګې یې د افغانستان دولت ته وې، نو ځکه د انګلیس دولت په ناچارۍ سره د ۱۹۲۱ کال په جنوري کې د سر هنري دابس سیاسي پلاوی افغانستان ته را واستاوه او خبرې-اترې یې بیا پیل کړې.

## د افغانستان او انګلیس تر منځ د کابل تړون او د سیاسي اړیکو ټینګېدل (۱۹۲۱)

د ۱۹۲۱م. کال د جنوري په پنځمه انګلیس هیئت د خیبر له لارې د افغانستان له پولو راتیر او د جنوري په شپږمه یې په جلال آباد کې د امیر حبیب الله خان قبر و کوت او د افغانستان د پاچا او د بهرنیو چارو وزیر له خوا ورته د ښه راغلاست تیلیفوني پیغام ورسېد. هیئت د جنوري په نهمه نېټه کابل ته راورسېد او د جنوري په لسمه نېټه د بهرنیو چارو په وزارت کې له محمود طرزي سره معرفي شو او وروسته بیا یې له پاچا سره کتنه وشوه. په دغه پلاوي کې دغه کسان وو: سرهنري دابس د پلاوي مشر، مسترجي پیپن، بریګیډیر جنرال الیس، مستر ابچیسن او څو تنه مسلمان(!) مستعمراتي عمال لکه نواب شمس شاه، خان بهادر غلام رضا او خان بهادر مظفر. خو د دواړو دولتونو د خبرو-اترو په مجلس کې د انګلیس د مستعمراتي مستخدمینو له ډلې څخه یواځې شمس شاه ناست و. افغاني هیئت کې دغه کسان وو: محمود طرزي د بهرنیو چارو وزیر (مشر)، سردار عبدالرحمن خان د بهرنیو چارو مستشار، شجاع الدوله امین العسس، جنرال شاه ولي خان، د سوداګرۍ وزیر غلام محمد خان، او مرزا میرهاشم امین نظام، وروسته بیا عبدالهادي خان راوي د سرحداتو مامور چې په بخارا کې د افغاني فوق العاده سفارت له سفر څخه بېرته راستون شو هم د دغه هیئت غړی شو.

کابل ته د دغه پلاوي له راتګ سره سم د جنوري په ۱۱مه نېټه د ډیورنډ له کرښې پورې غاړه څخه د آزاد سرحد د خلکو د استازیو یو پلاوی هم کابل ته را ورسېد، چې د افغانستان له پاچا سره د خپلو ولایتونو د برخلیك په هکله خبرې وکړي، چې دوی لا اوس هم انګرېزانو سره په جګړه کې وو. د سرحد ۴۲۰ تنه استازي، چې په هغو کې اورکزي، اکاخېل، اپریدي، ملك دین خېل، کوکي خېل، قنبرخېل، زخه خېل، کمرخېل، آدم خېل، مومند بابازي، ساپي، شینواري، ترنګزي، اتمانزي، دوبي زایي، مومند موسی خېل، حلیم زي او نور شامل وو او د کابل دربار ته د خپلو خلکو په استازیتوب راغلي وو. د ورکزیو وکیل د نامتو محمود اخونزاده زوی ملا عبدالخالق و. د اکاخېلو استازی ملا سید اکبرخان، د توچي وزیرستان وکیل د مرحوم اتل ملا پیونده زوی شهزاده فضل الدین و. د سرحد دغو استازیو د افغانستان له دولت څخه د ډیورنډ د کرښې لغو کول او له افغانستان سره د سرحد تړل غوښتل او له انګرېزانو سره یو بل جنګ ته یې ملا تړلې وه. د افغانستان دولت له انګرېزي پلاوي سره د خبرو پر مهال د سرحداتو د حد اقل آزادۍ په هکله ټینګار وکړ. حال دا، چې انګرېزانو نه یواځې دا چې دغه وړاندیز ونه مانه، بلکې د افغانستان او انګلیسي دولت تر منځ یې د اړیکو ټینګول، د انګلیس دولت سره د افغانستان د یو اړخیزې دوستۍ د سیاست د پرمخ بیولو بر بنسټ غوښتل، یعنې د افغانستان دولت یې د شوروي دولت سره د اړیکو نیولو څخه په مخ اړولو اړ کاوه. له دې لامله چې د دواړو غاړو غوښتنې یو د بل په وړاندې دربدلې، نو توافق ګران بریښېد. نو ځکه د دواړو دولتونو خبرې-اترې په کابل کې تر یوولسو میاشتو پورې اوږدې شوې په دغه موده کې افغاني هیئت دوه ځله د قرارداد دوه مسودې جوړې کړې. چې دغه وروستۍ یې د رومبنۍ تعدیل شوې بڼه وه، خو بیا هم انګلیس هیئت نه منلې،

Scanned by CamScanner

نږدې وچې خبرې-اترې پرې شي. د همدغو خبرو-اترو په ترځ کې د افغانستان د سفارت فوق العاده استازي محمدولي خان لندن ته ورسېد او د انګليس دولت له هغه سره خبرې کول د هند د وزير په واسطه په پام کې ونيولې. محمدولي خان ونه منله او ويې ويل، چې د هغه خبرې بايد په سيده توګه مخامخ د لندن له بهرنيو چارو وزارت سره وشي، که نه پرته له خبرو به له لندن څخه ولاړ شي. نو ځکه لارډ کرزن د انګليس د بهرنيو چارو وزير د ناچارۍ له مخې د افغانستان له هيئت سره خبرې کول ومنل. نو محمد ولي خان د لارډ کرزن د دغه سوړ چلند په هکله د افغانستان دولت ته خپل راپور وړاندې کړ. ددې په وړاندې محمود طرزي د افغانستان د بهرنيو چارو وزير په کلکو الفاظو سره يو ليک د سرهنري دابس په نوم واستاوه او دابس د نوم وروستي توري يې قصداً ونه ليک او د خپل ليک په عنوان کې يې براخې همدومره وليکل. چې: جناب داب، انګليسي پلاوي دغه د دابس د نوم د وروستي توری يې قصداً د وروستي ټکي حذف کول يو سپکاوی وباله او ښه پوره مرور شول او د هغه د استرداد غوښتنه يې وکړه. محمود طرزي دغه ليک بېرته ترلاسه کړ. له دې ټولو خبرو سره سره او د نظرونو له توپير سره سره د دولتونو استازيو په پای کې لاندينۍ تړون لاسليک کړ، دا ځکه چې انګرېزانو نه غوښتل، چې د افغانستان په اړه کومه نيمګړتيا يا ناڅرګند ټکی پاتې شي.

## د برېتانيا او د افغانستان د دولتونو تر منځ تړون

## "پيل"

"د افغانستان او بريتانيا دولتونه له دې لامله چې خپلو منځو کې غوارې ګاونډيتوب ولري، لاندينې درج شوي توکي مني او تر هغو لاندې لاسليک کوونکي خپل مهرونه چې د هغو په اړه بشپړ واک لري لګوي:

لومړی توك: د افغانستان او بريتانيا دواړه دولتونه يو د بل په وړاندې يو د بل ټول حقونه يو د بل کورنۍ او بهرنۍ خپلواکي تصديقوي او درناوی ورته کوي.

دوهم توك: تړون کوونکي دواړه لوري دولتونه يو د بل په وړاندې هغه سرحدونه، چې افغانستان هم د ۱۹۱۹ کال د اګست د اتمې (د ۱۳۳۷ د ذيقعدې الحرام په ۱۱مه) نېټې د تړون په پينځم توك کې په راولپنډۍ کې منلي دي، هماغه مني، همدا رنګه هغه کرښه چې د خيبر په لويديځ کې د بريتانيا د دولت کميسيون د ۱۹۱۹ کال د اګست او سپتمبر په مياشتو کې د پورتني توك له مخې کښلې ده او په هغې نقشې کې په توره زنځيري کرښه ښودل شوې ده، کومه چې له دغه تړون سره نښلول شوې وه. د منلو وړ ده. خو په استثنا سره لکه هغسې. چې په لومړي لمبر نښلول شوې ضميمه کې ويل شوي دي. دغه کرښه يو ځل بيا بدله شوې او دغه نوې کرښه ددې لپاره ومنل شوه، چې هغه سيمه چې تورخم بلل کېږي او د کابل سيند چې د شلمان خولې او د پلوخې تر منځ پکې روان دی، د افغانستان دننه وګڼل شي او دغه نوې کرښه په دغه نقشه کې په زنځيري سره رنګ باندې ښودل شوې ده او د بريتانيا دولت دا مني، چې افغاني مامورين به اجازه ولري، چې د پايپ په واسطه چې هغه به د اړتيا وړ او بو د رسولو لپاره له

Scanned by CamScanner

لندې خانې څخه د بریتانیا د دولت په تورخم کې د مېشتو افغاني اتباعو لپاره چمتو کېږي او د افغانستان دولت هم دا مني، چې برتانوي صاحب منصبان او هغه قومونه، چې د بریتانیا لورې ته مېشت دي دا اجازه لري، چې پرته له خنډ څخه به د کابل د سیند ددغې پورتنۍ برخې څخه د بېړۍ چلولو لپاره وکاروي او له دې برخې څخه د ځروبولو ټول حقونه هم لري.

**درېیم توک:** د بریتانیا دولت دا مني، چې د افغانستان د اعلیحضرت پاچا له لوري به یو تن مختار وزیر لکه د نورو هېوادونو په شان د لندن په شاهي دربار کې د سفیر په توګه ومني او هلته به د مېشت کېدو اجازه ورکړي. همداسې هم د افغانستان دولت هم ژمنه کوي، چې یو تن وزیر مختار به د انګلستان د اعلیحضرت پاچا له لوري او د هندوستان د امپراتور له لوري په کابل کې ومني او په کابل کې د بریتانیا د دولت د سفارت د مېشت کېدو لپاره به اجازه ورکړي. هر دولت دا حق لري، چې په خپل سفارت کې یو تن د نظامي اتاشي په توګه وګوماري.

**څلورم توک:** په جلال آباد او کندهار کې د برتانوي قونسلګر یو د مېشت کېدو لپاره د افغانستان دولت موافقه څرګندوي او بریتانیا دولت هم د هند د حکومت په مرکز کې د افغانستان یو تن جنرال قونسل او په کلکته، بمبئ او کراچۍ کې دریو تنو قونسلانو ته د مېشت کېدو اجازه ورکوي. که چېرې د افغانستان دولت په یوه مهال کې وغواړي، چې پرته له هندوستان څخه په نورو برتانوي هېوادو کې خپل مامور وګوماري نو ددغه ډول ماموریت لپاره به یو ځانګړی جلا تړون جوړېږي، په دې شرط چې د بریتانیا دولت دغه ډول ماموریتونه منظور کړي.

پینځم توك: تړون کوونکي دواړه لوري دولتونه به یو د بل د استازیو په وړاندې که مختار وزیران وي، یا جنر قونسل او یا هم قونسل وي له درناوي ډك چلند کوي او د هغه شخص سلامتي به ساتي او دا هم مني، چې دغه استازي به د خپلو دندو په ترسره کولو کې د هغو شرایطو تابع وي، چې ددغه تړون په دوهمه نښلونه کې راغلي دي.

له دې پرته بریتانیا دا هم مني، چې د خپل هېواد دننه به د افغانستان قونسل او جنرال قونسل او مختار وزیر لپاره، چې د پولو دننه ورته اجازه وي له پورتنیو حقونو څخه برعلاوه چې پورته وویل شول یو څه نور حقونه هم ورکړل شي او کټ مټ به د هغو امتیازاتو لرونکی وي، چې د نورو هېوادونو وزیر مختار، قونسل او جنرال قونسل یې په هغو هېوادو کې لري کوم، چې هلته دنده ترسره کوي او همداسې هم د افغانستان دولت هم دا مني، چې د خپل هېواد دننه به د بریتانیا مختار وزیر، قونسل او جنرل قونسل ته، چې هلته قانوني کارونه کوي د پورتنیو درج شویو حقونو پرته یو شمېر هغه امتیازات هم ورکوي، چې د نورو هېوادونو وزیر مختار، قونسل او جنرل قونسل یې په هغو هېوادو کې لري، کوم چې هلته دنده ترسره کوي.

**شپږم توک:** له دې لامله چې د افغانستان د دولت پیاوړتیا او هوساینه د بریتانیا د دولت په ګټه هم ده، نو ځکه د بریتانیا دولت دا مني، چې څومره اړتیاوې او وسایل چې د افغانستان لپاره په کار وي لکه فابریکې، تیلیفون، تلګراف، ماشینونه او نور که چېرې افغانستان یې له بریتانیا څخه یا د بریتانیا له

مستعمرو یا له نورو هېوادو څخه پېرې، نو پرته له کوم خنډ څخه افغانستان دغه مالونه د بریتانیا له ناپوګانو او برتانوي هند څخه را تېرولای شي او خپل هېواد ته یې راوړلای شي او همداسې هم د افغانستان دولت دا مني، چې هر هغه څه چې ایستل یې د افغانستان د دولت د قانون برخلاف نه وي او د افغانستان د دولت په نظر ددغه هېواد له کورنیو اړتیاوو څخه اضافه وي او د بریتانیا دولت ورته اړتیا ولري، نو بریتانیا هغه شیان د افغانستان دولت په اجازه پېرودلای او هندوستان ته یې وړلای شي، خو د وسلو او جبه خانې په هکله د بریتانیا دولت دا مني، چې تر څو چې دغه دولت ډاډه وي، چې د افغانستان د دولت نیت دوستانه دی او هندوستان ته کوم ګواښ نه پېښېږي، نو پرته له خنډ څخه وسلې هم راوړی شي، خو که چېرې وروسته له دغه تړون څخه افغانستان د نړۍ له سترو دولتونو څخه د وسلې سوداګري کوي، نو ددغه ډول وسلو د راوړلو حق به یې دغو شرایطو پورې تړلي وي، چې لومړی به افغانستان د وسلې د سوداګرۍ تړون لاسلیک کوي، بیا به د وسلې پېرودل او وړل د هغې له مخې ترسره کېږي که چېرې د وسلو د سوداګرۍ تړون یې نه وی لاسلیک کړی یا هغه تر پښو لاندې کړي، د افغانستان دولت یې نشي پېرودلای. خو د تړون د لاسلیک په صورت کې د بریتانیا له بندرونو څخه وسله او جبه خانه تېرولای شي.

**اووم توک:** هر مال، چې د شپږم توک سره سم افغانستان ته واردېږي، ددې لپاره، چې ډېر ژر افغانستان ته ولېږدول شي له هغه څخه به برتانوي هند په هېڅ ګمرک کې ګمرکي حق نه اخلي، په دې شرط چې هغه د هغو مامورینو په لاسلیک تصدیق شوي وي کوم، چې وخت په وخت د دولتونو له خوا ټاکل کېږي او په سند کې بیان شوي وي، چې دغه مال د افغانستان د دولت مال دی او ددغه دولت په فرمایش افغانستان ته لېږدول کېږي او په سند کې به د مال اندازه هغه بیه او شمېر ښودل شوي وي، چې له محصول د معافي غوښتنه یې شوې وي. د مال د واردولو پر مهال به د واردولو په بندر ګې د اړوند بندر مشر صاحب منصب ته ښودل کېږي او بیا به دوهم شرط دا وي، چې دغه مالونه به د افغانستان د عامه چارو لپاره وي، نه دا چې هغه به د دولتي انحصار یا کوم ځانګړي دولتي کار لپاره وي. درېیم دا، چې دغه مال ته به هغه وخت د هندوستان له لارې څخه د تېرېدو اجازه ورکول کېږي، چې په مهر شویو انډیو کې تړلي وي او له هندوستان څخه له وتلو مخکې باید ونه پرانیستل شي او ونه ویشل شي، یا به هم داسې مال وي، چې په څرګند ډول وپېژندل شي. همدا رنګه د بریتانیا دولت دا مني، چې ټول هغه سوداګریز مالونه، چې برتانوي بندرونو څخه هندوستان ته راځي. ددې لپاره چې بېرته ووځي او افغانستان ته ولاړ شي او له هغو لارو څخه تېر شي، چې دواړو دولتونو هغه ښودلي او منلي دي که له هغه څخه کومه اندازه محصول اخیستل شوی وي، هغه به د وتلو پر مهال بېرته ورکول کېږي په دې شرط، چې دغه ډول مال مهر شوی وی او مخکې له وتلو پرانیستل شوی نه وي. همدا رنګه د بریتانیا دولت دا اوس لپاره دا نیت نه لري، چې له هغو مالونو او څارویو څخه محصول واخلي کوم چې د افغانستان دي او هلته جوړ شوي وي او د هندوستان له لارې بهر ته ځي او د سمندر یا وچې له لارې هندوستان ته راغلي وي او واردول یې په قانوني توګه هندوستان ته کوم ممانعت ونه لري، خو که چېرې

د بریتانیا دولت په راتلونکي کې داسې فیصله وکړي، چې د سمندر یا وچې له لارې راتلونکي مال څخه په محصول اخیستل کېږي، نو بیا دغه دولت کولای شي. چې له هغه مال څخه محصول واخلي کوم. چې له افغانستان څخه راځي، خو دغه دولت دا هم مني، چې دغه محصول به له هغې اندازې څخه زیات نه وي، چې کوم ګاونډیو هېوادو کې اخیستل کېږي.

**اتم توک:** د بریتانیا دولت دا مني، چې د افغانستان د دولت وکیل التجاره به په پاړه چنار. کوټه او پېښور کې ګومارل کېږي، خو په دې شرط. چې د دغو تجارتخانو مالونه او کارکوونکي به د بریتانیا د دولت داحکامو او قوانینو تابع وي او د بریتانیا د دولت د محکمو تر واک لاندې به وي. خو د بریتانیا دولت به دوی ونه پېژني که د هېڅ رسمي حالت یا ځانګړی حق لرونکی وي.

**نهم توک:** هغه سوداګریز مالونه، چې د اوم توک له شرایطو سره سم له اروپا او نورو ځایونو څخه افغانستان ته راځي، د جمرود، کُرمې او چمن د وسپنې د پټلۍ په پای کې به په ځارویو باندې د بار کېدو په اندازه باندې د جوړولو په خاطر پرانیستل کېږي، خو په ګمرك باندې به یې تجدید نه راځي، چې دا چارې به د هغو سوداګریزو استازیو له خوا سمبالېږي. چې په دولسم توك کې ښودل شوي دي.

**لسم توک:** ترون کوونکي دواړه دولتونه دا مني ، چې د دواړو هېوادونو تر منځ د ډاګ شویو شیانو د تبادلې لپاره به هر ډول آسانتیاوې برابروي. په دې شرط، چې هېڅ لوری به یو د بل د خاورې دننه ډاګخونه پرانیزي. د دغه توك د عملي کولو لپاره به یو جلا پستي ترون لاسلیك شي او د هغه د چمتو کولو په خاطر به یو شمېر ځانګړي مامورین، چې د افغانستان دولت به یې وټاکي د بریتانیا له صاحب منصبانو (مامورینو) سره به یوځای په دې کار بوخت شي.

**یوولسم توک:** ددې ترون هر لوری یو د بل په وړاندې. نیك نیت، په تېره بیا د هغو اوسېدونکو په اړه، چې د دواړو هېوادونو په آزادو سرحداتو کې مېشت دي، نیك نیت څرګندوي او ددې توك له مخې ژمنه کوي، چې په راتلونکي کې به د نظامي عملیاتو له اجرا کولو څخه چې ډېر مهم وي او یو د بل د پولو دننه د سرحدي قومونو د اوسېدو په سیمو کې اجرا کېږي باید یو بل ددغه عملیاتو څخه خبر کړي.

**دولسم توک:** د ترون دواړه لاسلیك کوونکي لوري دا مني، چې د افغانستان او بریتانیا استازي به وګومارل شي، چې د یوه سوداګریز ترون د چمتو کولو په خاطر په کار پیل وکړي، دغه ډول یو قرارداد به لومړی د هغو تدابیرو په هکله وي، چې لومړی په نهم توك کې د ځای پر ځای شویو ټکیو د عملي کېدو په خاطر وي، دوهم به هغه ټکی په هغه کې راوستل شي، چې په نهم توك کې نه دي راغلي، خو د دواړو لوریو د ګټو په خاطر ضروري دي، خو ددغه نوي ترون تر لاسلیك کېدو پورې به د دواړو لوریو تر منځ سوداګریزې چارې روانې وي.

**دیارلسم توک:** د ترون دواړه لوري دا مني، چې لومړی او دوهمه نومره نښلونې، چې همدغه ترون پورې اړه لري لکه په خپله د ترون د هر توك په شان قانوني ارزښت لري.

**څوارلسم توک:** د دغه ترون شرایط د هغه د لاسلیك کېدو له نېټې څخه د اجرا وړ دي او له همدې نېټې څخه به تر درې کلونو پورې نافذ وي تر څو. چې د ترون لاسلیك کوونکی کوم لوری ددغې درې کلنې

Scanned by CamScanner

مودې له پوره کېدو څخه ۱۲ میاشتې مخکې د هغې د پای ته رسېدلو څخه خبر ورنه کړي، نو هغه له هغې نېټې څخه چې یو لوری یې رد کړي بیا به هم یوه کاله پورې دوام ومومي دغه تړون وروسته تر لاسلیك کېدو څخه د اجرا وړ بلل کېږي. له لاسلیك کېدو څخه اووه نیمې میاشتې وروسته د هغې تصدیق شوي صورتونه په کابل کې یو بل سره تعاطي کېږي.

الرقوم د ۱۹۲۱ د نومبر ۲۴مه چې د ۱۳۰۰ شمسي د لړم له ۳۰مې سره برابره دد

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي او د انګرېزي میشن د مشر سرهنري دابس لاسلیکونه

د آزادو افغاني سرحداتو د مصئونیت په هکله د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي په نامه د سرهنري دابس رسمي لیك په لاندې توګه د ړومبني تړون سره یو ځای استول شوی و.

د افغانستان د خپلواك دولت د بهرنیو چارو وزیر سردار اعلی جناب جلالتمآب مشفق مهربان دوست محمودبیك طرزي ته زیات درناوی.

له دې لامله چې د دواړو دولتونو تر منځ د سرحد د قومونو احوالات د افغانستان د دولت د اندېښنې وړ دي، هغه مشفق مهربان ته خبر درکوم، چې د بریتانیا دولت د سرحد ټولو قومونو ته نیك نیت لري او په هره ښه نیت لري، چې دوی سره غوره چلند ولري په دې شرط. چې د بریتانیا د اتباعو په وړاندې له بریدونو څخه لاس واخلي. هیله ده، چې دغه لیك د هغه مشفق مهربان د ډاډګیرنې لامل وګرځي. «د سرهنري دابس لاسلیك»

المرقوم ۱۹۲۱م د نوامبر ۲۲مه ۱۳۰۰ شمسي د لړم ۳۰مه"

سره له دې، چې دغه تړون د افغانستان خپلواکي تامین کړه، خو د افغاني آزادو سرحداتو ستونزه یې حل نه کړه او ډیورنډ کرښه هماغسې پاتې شوه نو لکه هغسې چې د افغانستان دولت په باطن کې له دې پېښې څخه ناخوښه و، د آزاد سرحد خلك هم ګیله من وو، او انګرېزانو ا ډول کوم تړون نه مانه، خو د تشریفاتو تر نقاب لاندې یې په ظاهري توګه یو څه وکړل، خو د دواړو دولتونو تر منځ تلپاتې خپګان او خړپړوالی پاتې شو او د سرحد په خلکو باندې د واکمن کېدو په خاطر د انګرېزانو نظامي اقدامات تر ډېرې مودې پورې جاري پاتې وو. همدا رنګه د افغانستان دننه د دوی فعالیتونه د آزادو سرحداتو او افغانستان تر منځ د هر ډول مادي او معنوي اړیکو د پرې کولو په خاطر لا پراخ شول.

په هر حال، سره له دې چې د انګلیس دولت د کابل تړون لاسلیك کړ، خو هغه یې د لندن له پارلمان څخه تېر نه کړ او د یوه فرصت په تمه کښېناستل له دې سره یو ځای د ۱۹۲۲ جون میاشت کې د افغانستان او انګلیس تر منځ یو سوداګریز کنوانسیون لاسلیك شو، خو د افغانستان د آزادو سرحداتو د اوسېدونکو استازي په دغه قرارداد کې د ډیورنډ کرښې د ټکي په اړه د افغانستان د دولت د توافق څخه ناراضه او خپه وو. په تېره بیا کله چې په کابل کې د پاچا یو شمېر مشاورینو له انګلیس سره د خبرو-اترو د مراعات کولو او د ظاهراً مناسباتو د ساتنې په نامه پاچا ته مشوره ورکړه او په دې توګه اد آزادو سرحداتو له استازیو سره یې مخامخ کتنه ونه کړه، دا ځکه چې دا خبره انګرېزان شکمن نه کړي او د افغانستان جاري خبرې-اترې له کوم زیان سره مخامخ نه شي. البته دغه ډول مشورو یواځې او یواځې د

د دولت او د سرحد د اوسېدونکو تر منځ يوه اشتباه پيدا کوله او له انګليس سره د جبهې د پرانيستو پر ځای يې د هېواد دننه يوه خپل منځنۍ جبهه پرانيستله او بله پايله او ګټه يې نه وه. يوه نامتو افغان مجاهد فضل محمدصاحب مجددي چې د کورني سياست په هکله يو پوه سړی و، په دې هکله لاندينی ليک پاچا ته واستاوه:

"د صميمي داعيانو عرضداشت دا، چې د دغه حقيرانو په ناقص فکر او خيال (دغه ليک کې د نوموړي کشر ورور فضل عمرصاحب مجددي هم لاسليک کړی و) دا واجب العرض وبلل شوه، چې دغه ليک چې يواځې او يواځې د خيرخواهۍ له مخې ليکل شوی او له شخصي غرضونو څخه خالي دی، هيله لرو، چې د اسلام پناه پاچا کتنې ته ورسېږي او په غور يې ولولي:

موسی خان مسعودي، چې د غازي موسی خان د تره زوی دی او په قومي اعتبار کې هغه ته دوهم موسی خان ويل کېږي، آن دا چې د موسی خان مټ، بازو او زبه ده او د مسعودو ټول قوم د هغه بېرته ورتګ ته سترګې په لاره دي او له ډېر لرې ځای څخه د اسلام د پاچا حضور ته د ورتګ او ورسره کتل غواړي او هيله لري، چې خپل مطلب ورته ورسوي، خو له يوې مياشتې زيات وخت کېږي، چې په تمه و او اوس د، سپه سالار صاحب غازي له درانه حضور څخه په خپګان سره رخصت اخلي، که چېرې دغه داعي نواز همداسې ناهيلی ستون شي او ستاسې درانه حضور ته مشرف نشي او ستاسې له خوا مهرباني او تسکين ونه ويني، سم د هغه له رسېدو سره به د مسعودو غازيان تيت شي او ډېر به يې کفارو سره يو ځای شي او د مسعودو او وزيرو اړيکې به پرې شي او کفار اشرار خلقهم الله به وخت غنيمت وبولي او د شيطان په دسيسو سره به د قومونو تر منځ ريښه وځغلوي، چې بيا به يې مخنيوی نه کېدونکی وي خو اوس د همدغه موسی خان په لاس سره، چې يواځې ستاسې حضور ته راشي او د پاچا له لوري مهرباني احساس کړي او په مجموع کې لږ اميدواري ورکړل شي، نو د دين له دښمنانو سره به د دوی جهاد يو کال نور هم اوږد شي او د دين دښمن به کامياب نشي. انشاءالله تعالی.

شريعت پروره دولت دې پاينده اوسه او طالع دې فرخنده.

فضل محمد مجددي، الخاطی الضعيف فضل عمر مجددی. (۱)

په دغه ليک کې ددې نور تفصيلي تو کونه هم شته، چې يوه يې له دښمن سره د دوستي نه کولو په هکله، د بهرني دښمن په وړاندې د ملت د يووالي ساتنه، چې د هېواد د ساتنې کلك ديوال او وسپنيزه کلا ده. بله يې د آزادو سرحداتو د قومونو لپاره ډاډګيرنه ورکول، چې د هېواد يو کلك ديوال بلل کېږي. دريم يې د مسعودو د مهاجرو په هکله ده چې لوګر ته راغلي وو، چې هغوی ته بايد يوه اندازه دولتي ځمکې په غزني او ميدان وردك کې ورکړل شي او په ژمي کې به د غلجيو کوچيانو پر ځای په خوست کې اوسېږي دا ځکه چې د دوی د اوسېدو پخوانی سيمې کفارو ورڅخه نيولې.

خو داسې برېښي، چې د شمس المشايخ دغه عرض کوم ځای ونه نيو. هغه اړ شو چې يو بل ليك هغه چاته واستوي، چې د سرحد چارې ورپورې اړه لري. دغه ليك د ارجمند محترما په عنوان ليکل شوی او

۱- د ښاغلي محمد معصوم مجددي اړونده د شمس المشايخ صاحب مجددي د اسنادو له دوسيې څخه راواخيستل شو.

Scanned by CamScanner

په هغه کې یې د پاچا حضور ته د موسی خان مسعودي د وروستلو او له هغه سره د خدای پاماني هیله کړې وه، خو دغه توصیه او تاکید هم نه و منظور شوی.

په هر حال، کله، چې د افغانستان او انګلیس تر منځ د کابل تړون لاسلیک شو او وضعیت عادي حالت ته راوګرځېد، یو ځل بیا د افغانستان او د هغه سرحد آزادي غوښتونکو وګړو اصلي سیاست د انګرېز له استعماري سیاست سره د آزادو سرحداتو په موضوع باندې په ټکر کې راغی او دغه ټکر کلونه کلونه اوږد شو، تر هغه چې په افغانستان کې اماني دولت او په هند کې انګلیس د دولت سیاست له منځه ولاړ، خو بیا هم د افغانستان د ختیځو پولو موضوع حل نشوه او د انګلیس د وارث (پاکستان) سره نوي کشمکشونه پیل شول او لا هم دوام لري او پرته له شك څخه تر څو چې په سیمه کې د بهرنیو واك پای ته نه وي رسېدلی دغه ټکرونه او مبارزه به دوام ولري.

له ۱۹۱۹م. کال څخه نیولې بیا د کابل د تړون تر لاسلیک کېدو پورې د انګرېزانو په ضد د سرحد خلکو څو ناڅه پېنځه سوه ځله بریدونه وکړل او په سلګونو انګرېزان ووژل شول او پېنځه سوه انګرېزان افغانانو سره برمته شول. انګرېزانو په توپونو او الوتکو په خلکو تیری او بریدونه کول او تر ۱۹۲۰م کال پورې د مسعودو تر مرکز (کانیګروم) پورې ورسېدل او د خونړیو جګړو په ترڅ کې یې د "معتدلانه پرمختګ" تر شعار لاندې په سلګونه آزادي غوښتونکي ووژل او په همدغه شعار او دوکې سره یې له تل څخه تر ټانك پورې او له پېښور څخه تر لنډي کوتل پورې سړکونه وغځول او د الوتکو لپاره یې ډګرونه جوړ کړل او د خیبر تر درې پورې یې د وسپنې پټلۍ راورسوله. د سرحد ننګیالیو خپل د ترپ او ترپ بریدونو ته دوام ورکړ او انګرېزان به یې برمته کول، چې د لوی خطر پر مهال به یې افغانستان ته پناه راوړه او د افغانستان دولت به د هغوی ملاتړ کاوه او افغانستان د سرحد له خلکو سره یې خپل کلك ملي علایق ساتل. د هېواد مطبوعاتو هم یوه قلمي مبارزه پیل کړې وه او د آزادو سرحداتو د خپلواکۍ ملاتړ یې کاوه. پاچا امان الله خان په ۱۹۲۳م. کې د هېواد ختیزو پولو ته سفر وکړ او په جلال آباد کې یې د آزادو سرحداتو د اوسېدونکو افغانانو د استازیو په ګډون یوه جرګه جوړه او د سرحد د خپلواك کولو موضوع یې پکې رامنځته کړه او دوی ته یې د مادي مرستو له ورکولو هم ډډه نه کوله. د سرحد د اوسېدونکو مبارزې لا پسې ګړندۍ شوې، خو دانګرېزانو پروتست د افغانستان په ضد شروع شو. انګرېزانو له افغانستان څخه وغوښتل، چې ددغو مبارزو مخه ونیول شي که نه د دواړو دولتونو اړیکې به پرې شي. په دې توګه انګرېزانو غوښتل. چې افغانستان خپلې اړیکې له آزاد سرحد سره پرې کړي او هغوی د انګرېزانو لمنې ته ور واچوي او که جګړه پېښه شوه، نو د افغانستان له مرستې به بې برخې شي، خو د افغانستان دولت د ملي سیاست له کرښې څخه کوږ نه شو او خپلې اړیکې یې لکه د پخوا په شان آزادو سرحداتو سره وساتلې. په دې توګه په ۱۹۲۴م. کال کې په پکتیا کې د انګرېزانو په لمسون او د کورنی ارتجاع په لاسوهنه یې لوی اړ-دوړ پیل کړ او یو مجهولا الهویته سړی، چې د امیر یعقوب خان بچه خوانده بلل کېده او نوم یې عبدالکریم و ددغه اړ-دوړ په سر کې راغی. په دې توګه د افغانستان دولت په خپل ځان بوخت شو او د سرحد له خلکو سره یې مرسته بېخي هېره شوه. د

سرحدونو پـه اوږدو کې د افغانسـتان دغـه بوختېدل او کـورنۍ سـرخوږی د سیاست له پلوه یوه خلا رامنځته کړه، چې د انګرېز د نظام او سیاست په واسطه مخ په ډکېدو وه او حالات پـه داسې خوا روان شول، چې د سرحد د خلکو زړونه ورو ورو له افغانستان څخه ساړه شول. کله چې د پکتیا اړ-دوړ وځپل شو، یو ځل بیا د افغانستان حکومت د سرحد د خلکو ملاتړ پیل کړ او د رسمي پروتستونو پـه ورکولو سره یې د انګرېزانو د پرمختګ مخالفت وکړ او له دغه سیاست څخه یې خپله کرکه ښکاره کړه. آن دا چې هغه مهال چې په ١٩٢٨م. کال د افغانستان پاچا اروپا ته سفر وکړ او هلتـه بیا لندن تـه ورغی، په خپله یې شخصاً د سرحد د خلکو د خپلواکي موضوع او د ډابس د رسمي سند موضوع مطرح کوله او د انګرېزانو د پرمختګ سیاست یې وغانده او په دې هکله یې په کلکه د افغانستان دریځ په ډاګه کړ.

یو کال وروسته په افغانستان کې امانیه دولت راوپرځېد اوپه سرحداتو کې د انګرېزانو فارورډ پالیسۍ خپل لوړې ځوکې تـه ورسېده، خوله دې څخه یـو بل کـال وروسـته یعنې پـه ١٩٣٠ کې د انګرېزانو په وړاندې د وزیرستان د خلکو پاڅون پیل شوی و ورپسې بیا اپریدي د انګرېزانو پـه ضد پاڅېدل او په تیرا کې مومند جګړې تـه چمتـو شول. انګرېزانـو سره لـه دې، چې د خپلو وینو او پیسو پـه بدل کې وکولای شول، چې سمدستي ځان د آزاد سرحد لـه خلکو وساتي، خو پـه دې هم اړ شول، چې ورو ورو خپلې نظامي مورچې او اډې لـه آزاد سرحد څخه وکاږي. همدا وضعیت روان و، چې دوهمې نړېوالې جګړې نړۍ ته ټکان ورکړ او په هندوسان کې دانګلیس سیده واکمني پای ته ورسول شوه، خو انګرېزانو په خپله نوې زېږولې شوې لور باندې د حمایې لمن وغوړوله او د افغانستان د آزاد سرحد د خلکو حقونه یې د یوه "میراث" په توګه د پاکستان دولت تـه وسپارل او ویې غوښـتل، چې د دین او مذهب تر چتر لاندې د آزاد سرحد مبارز او خپلواکي غوښتونکي افغانان بې وسلې کړي، لا هم دا لوبه روانه ده، چې پای ته رسېدل به یې د وخت تیرېدل او راتلونکی تاریخ اعلان کړي.

# له بهرنیو دولتونو سره د افغانستان اړیکې

## ۱- د شوروي له دولت سره

کله، چې د ۱۹۱۹م. کال د فروري په ۲۸مه افغانستان خپله خپلواکي اعلان کړه د افغانستان پاچا له بهرنیو هېوادونو سره اړیکو ته پاملرنه وکړه او تر ټولو مخکې یې د روسیې فیدرالي شوروي دولت وپېژاند او د سیاسي سفیرانو په استولو او تبادله کولو او د لیك په واسطه یې ورسره سیاسي اړیکې ټینګې کړې. شوروي د ۱۹۱۹ کال د مارچ په ۲۷مه نېټه د افغانستان خپلواکي دیوې اعلامیې په ترڅ کې په رسمي توګه وپېژندله او شاه امان الله خان د شوروي د انقلابي دولت د ستر لارښود په نامه د شوروي دولت سره د افغانستان د دوستۍ وړاندیز په لیکلې بڼه د اپریل په اوومه نېټه ور واستاوه. دې پسې یې د اپریل په شلمه نېټه یو بل لیك لینن ته واستاوه او په هغه کې یې د افغانستان له لوري شوروي ته دیوه فوق العاده سفارت د هیئت د لېږلو خبره وکړه. لینن د می د ۲۷ مې نېټې په دوو لیکونو کې د شاه امان الله خان دواړو وړاندیزونو ته مثبت ځواب ووایه او دا یې هم وویل، چې د شوروي یو پلاوی به هم افغانستان ته راشي.

په داسې حال کې، چې افغاني فوق العاده سفارتي پلاوي له افغانستان څخه مخکې د شوروي اتحاد خوا ته روان شوي وو. د دغه لوی پلاوي مشر د دربار یو لیبرال روڼ اندی محمد ولي خان بدخشانی و او یو مهم غړی یې یو مشروطه غوښتونکی فاضل میر یاربېګ خان بدخشاني و چې له کابل څخه د روانېدو په ورځ یې په آس باندې زړه ودرېد او وفات شو. دې خبر د هېواد روڼ اندي خپه کړل او د دوی د خواشینې لامل شو. د دغه پلاوي نور غړي دا وو:
میرزا محمد یفتلي. عبدالرحمن خان لودي. محمد ګل خان مهمند، سردار فیض محمد خان زکریا، قاضي سیف الرحمن خان، عبدالحمید خان کمیدان، خواجه هدایت الله خان، بشراحمد خان، عزیزالرحمن خان، غلام خان او نور... پلاوي د می په ۲۸مه تاشکند ته ورسېد او هلته ډېره موده ډېر بوخت پاتې شول. د هغوی خبرې له ښاغلي براوین سره وې. نوموړی هغه څوك و، چې په کابل کې د شوروي د سفیر په توګه ټاکل شوی و، حال دا چې مخکې د نوموړي له ټاکل کېدو څخه په کابل کې د ازبکستان سیاسي استازي حسین بن اسحق د ازبکستان له نماینده ګۍ پرته د شوروي او افغانستان دواړه هېوادونه زیانمن کېږي. د همدغو خبرو په پایله کې و، چې په دولت نماینده ګي هم کوله.
براوین او افغاني پلاوي د خپلو خبرو په ترڅ کې دا توضیح کړه، چې د انګلیس دولت تر چارجوي پورې نفوذ کړی او غواړي، چې بخارا ونیسي او که چېرې د هغوی دا اراده عملي شي د شوروي راتلونکي کې د دواړو دولتونو له لوري د بخارا او خیوې خپلواکي په رسمیت وپېژندل شوه او د خیوې او بخارا استازي کابل ته را ورسېدل.

Scanned by CamScanner

د افغاني پلاوي مشر محمدولي خان له براوین سره تر خبرو-اترو وروسته د خپل پلاوي له څو تنو غړو سره مسکو ته ولاړ او نور څو تنه یې په تاشکند کې پرېښودل. محمد ولي خان د اکتوبر په لسمه مسکو ته ورسېداو د اکتوبر په ۱۴مه یې د شوروي له مشر "لینن" سره لیده کاته وکړل. د نومبر په ۱۷مه لینن یو بل لیك هم د پاچا امان الله خان په نوم راواستاوه. د ۱۹۱۹م. کال د دسمبر په ۱۴مه یې د شوروي له مشر "لینن" سره لیده کاته وکړل. د نومبر په ۱۷مه لینن یو بل لیك هم د پاچا امان الله خان په نوم راواستاوه. د ۱۹۱۹م. کال د دسمبر په ۱۴مه د شوروي مختار وزیر براوین کابل ته راورسید. براوین په ۱۹۲۰م کې له دندې څخه لرې شو او د دندې له پای ته رسېدو څخه وروسته هم همدلته پاتې شو او افغاني تابعیت یې ومانه، په ۱۹۲۱م. کال کې یې غوښتل، چې له افغانستان څخه ولاړ شي، خو په غزني کې د یوه پټ لاس د تومانچې په ګولۍ ووژل شو او تورن کس اعدام کړل شو.

په هر حال، د افغانستان او شوروي اړیکې دوستانه او صمیمي وې او د ۱۹۲۱ کال د فبروري په ۲۸مه د دواړو هېوادونو تر منځ د دوستۍ تړون لاسلیك شو. له دې نېټې څخه وروسته نور هم دغو دوستانه اړیکو پراختیا ومونده. سره له دې، چې یو څل د بخارا پېښو دغه اړیکو ته ټکان ورکړ. هغه داسې چې د امیر حبیب الله خان د حکومت په وروستیو کې د سیدعالم شاه د بخارا د امیر له لوري د افغانستان له دولت څخه د نظامي مرستې غوښتنه شوې وه، پاچا امان الله خان په خپل وخت کې دغه غوښتنه ومنله او له څلورو توپونو او دوه پیلانو سره یې یو شمېر افغاني نظامیان ور واستول، حال دا چې د بخارا د ځوانانو کمیټې له امیر سره له یوې نېټې وروسته په تاشکند کې یو لښکر جوړ او د ۱۹۲۰م. کال په اګست کې یې بخارا ونیوله او امیر وتښتید او دغو ځوانانو په خپله یو نوی جمهوري دولت جوړ کړ. ددغو پېښو په جریان کې افغاني سپاهیان هم بندیان شول. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د وضعیت د کتنې په خاطر او د خپل سیاسي دریځ د ټاکلو په خاطر د اکتوبر په شلمه نېټه د عبدالهادي خان داوي په مشرۍ یو فوق العاده پلاوی بخارا ته واستاوه، چې په هغه کې غلام صدیق خان څرخي او میرزا غلام حیدرخان غړي وو. کله چې دغه پلاوي بخارا ته ورسېد، نو دا مهال لا امیر په دوشنبه کې له انقلابي مبارزینو سره په جګړه بوخت و. د بخارا جمهور رئیس محی الدین منصوروف او ددغه جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر فیض الله خواجه او د وزیر مرستیال هاشم شایق افندي و، چې وروسته تر عبدالرحیم خواجه څخه په کابل کې د بخارا د استازي په توګه وګومارل شو او په راتلونکي کې یې د افغانستان تابعیت ومانه او همدلته مړ شو. هلته په بخارا کې د افغاني پلاوي مشر داوي ته وویل شول، چې په بخارا کې د جمهوریت جوړېدل په خپله د بخارا د انقلابي ځوانانو په لاس شوی دی، نو ځکه له افغانستان څخه هیله کېږي، چې لاسوهنه ونه کړي او ناپېیلي پاتې شي. افغاني سفارت ومنله او کابل ته راستانه شول او بندیان شوي سپاهیان یې د بخارا له جیل څخه راخوشې کړل. وروسته بیا کله چې امیرسیدعالم د انقلابي ځوانانو په لاس ماتې وخوړه، افغانستان ته یې پناه راوړه، چې د ۱۹۲۱م. کال په فبروري کې کابل ته راغی او همدلته یې ژوند غوره کړ تر څو چې همدلته ومړ. یوې بلې پېښې، چې د شوروي او افغانستان په اړیکو منفي اغېزه لرله، هغه په ترکیه کې د فرغانې او بخارا د (اتحاد و ترقي)

دګوند د نامتو استازي انور پاشا شوروي ضد فعالیتونه وو، چې په ۱۹۲۲ کې یې ترسره کول. دا خکه چې دا مهال پاچا امان الله خان د هېواد شمال ته یو پوځ واستاوه، دغه کار د شوروي دولت اندېښمن کړ، نو ځکه له پاچا څخه وغوښتل شول، چې ناپیلتوب غوره کړي او د افغانستان دولت په دې برخه کې د افغانستان بشپړه بیطرفي اعلان کړه. وروسته تر دې څخه، چې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ اړیکې ښې او دوستانه شوې او یو شمېر افغاني زده کوونکي دزده کړو په خاطر تاشکند ته ولاړل او افغاني هوایي ځواك کې دیرش تنه روسي مستخدمین په کار وګومارل شول. کله چې د آمو په سیند کې د درقد د ټاپو په سر د افغانستان او شوروي تر منځ اختلاف پیدا شو او قطغن ته د کابل له لوري عسکر واستول شول، نو بیا هم شوروي دولت دغه ټاپو پرېښود او په ۱۹۲۶م. کال کې ددغه ټاپو د پرېښودلو پروتوکول د دواړو دولتونو تر منځ لاسلیك شو. د همدې کال د نوامبر په ۲۷مه د شوروي اتحاد او افغانستان تر منځ یو پر بل د "نه تیري او د ناپیلتوب" قرارداد لاسلیك شو. په ۱۹۲۷م. کال کې دکابل او تاشکند تر منځ د هوایي کرښې د جوړولو موافقه لاسلیك شوه. وروسته تر دې د دواړو دولتونو تر منځ اړیکې په ډاډمنتیا او دوستۍ سره پر مخ رواني وې.

## ۲- له ایران سره

افغانستان له انګرېزانو سره له دریېمې جګړې وروسته خپل تاریخي ګاونډي ایران سره د اړیکو ټینګولو ته ځیر شو. دا مهال د ایران وضعیت د سیاست له پلوه ډېر ګډوډ و او سوله غوښتونکي ایران د بهرنیانو تر نظامي اشغال لاندې راغلي وو. استعماري سیاست په دغه هېواد کې لاسوهنه کوله او د ګیلان، کردستان او خراسان او همدارنګه د ایران دجنوبي قبایلو تر منځ یې اړ-دوړ او پاڅونونه را پیدا کول. ددغه هېواد فیوډالانو هر یوه د مرکزي دولت په وړاندې د خپلواکۍ د عوا لرله لکه: حسین علي طالش، د خلخاني قبیلو امیر، صرغام خان او نور... شیخ غزعل په خوزستان کې ځان په انګرېزانو باندې وپلور. په ۱۹۲۱ کې انګرېزانو خپل نظامي ځواکونه له ایران څخه وکښل، خو بیا هم د دوی یو شمېر پوځونه او نظامي ځواکونه په سمندري بندرونو، دزداب، کرمان او بحرین په ټاپوګانو کې پاتې شول. په همدې کال کې د ایران د قزاقانو د ځواکونو قوماندان رضاخان وټاکل شو او یو کال وروسته (په ۱۹۲۲ کې) دغه سړی د جنګ وزیر شو او ټول کورني پاڅونونه یې غلي کړل او تجزیه غوښتونکي فیوډالان یې له منځه یوړل. په ایران کې همدا مهال دولت یو څه مرکزیت وموند، چې وروسته بیا په شخصي نظامي دیکتاتورۍ بدل او سلطنت غوښتونکي دیکتاتور باندې واوښت.

په هر حال، همدا، چې د افغانستان دولت فرصت وموند، خپل یو مامور سردار عبدالعزیز خان یې، چې د ایران له دولت سره یې له پخوا څخه پېژندنه لرله په ۱۹۲۰ کال کې د سیاسي استازي په توګه ور واستاوه. دغه سردار په تهران کې خپل مطالب په ښېځو توګو کې د ایران حکومت ته وړاندې کړل: د دوستانه خبرو اترو غوښتنه د سفیرانو تبادله، په مشهد کې د افغاني قونسل پرانیستل، د ډاك او سوداګریزو اړیکو ټینګول، د افغاني استازي او ایراني ماموړینو تر منځ خبرې-اترې وشوې او یو کال

وروسته له هغه څخه د دواړو هېوادونو تر منځ د دوستۍ یو تړون وشو. دغه تړون د افغاني سفیر سلطان عزیز خان او د ایران د بهرنیو چارو وزیر میرزا حسن خان له خوا د ۱۳۰۰ش. کال د چنګاښ په لومړۍ د ۱۹۲۱م. کال د جون په ۲۲مه) لاسلیک کړ، خو له دې څخه یو کال مخکې یعنې د ۱۲۹۹ش. کال په لړم (۱۹۲۰) کې مجدالملك په افغانستان کې د سفیر په توګه ټاکل شوی و.

د دغه تړون په لومړي توك کې راغلي وو، چې: وروسته تر نن ورځې څخه د افغانستان او ایران تر منځ صادقانه دوستي او ښې اړیکې ټینګې شوې.

په اووم توك کې هم څرګنده شوې وه، چې: هر هغه جنایي مجرم چې یو د بل دولت ته پناه ور وړې هغه بېرته مسترد شي، خو سیاسي تورن نه شي مسترد کېدای. د دوستۍ د دغه تړون په لاسلیك کېدو سره د دوستۍ یو هغه پیمان رامنځته شو، چې د دوو ډېرو نږدې ملتونو تر منځ د افغانستان یوه پخوانۍ هیله وه، چې له ډېر پخوا څخه، په تیره بیا د دغې هیلې پیل د سید جمال الدین افغان په افکارو کې و او دغه هیله د دې تړون په لاسلیك کېدو سره پوره شوه، چې د افغانستان دولت او ملت دواړو د دې ښه هر کلی وکړ، خو له دې لامله چې د آسیایي هېوادونو تر منځ یووالی د لویدیز استعمار په ګټه نه و، نو ځکه د انګرېزانو په لاس د دغه یووالي په لاره کې خنډونه اچول کېدل. په دې ترځ کې په خپل د همدغو هېوادو یو شمېر تاریخ لیکوالو او یا هم سیاسي استازیو په غیر شعوري توګه او یا هم په شعوري توګه یو د بل تر منځ د تفرقې په پیدا کولو کې لاس درلود او د لنډې مودې احساسات او ګټې یې د عمومي او اوږدې مودې ګټو په پرتله غوره ګڼلې، خو بیا هم د ایران او افغانستان دولتونو د خپلو دوستانه اړیکو ټینګولو لپاره هڅې جاري وساتلې. چې پایله یې د ۱۳۰۷ش. کال د لیندۍ د شپږمې (د ۱۹۲۷م. داګست د میاشتې د ۳۱مې) نېټې تړون شو، چې په نهو څپرکیو کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د وکیل غلام صدیق خان څرخي او په کابل کې د ایران د سفیر میرزا سید مهدي خان تر منځ لاسلیك شو. د دغه تړون په لومړي څپرکي کې د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو بنسټ هماغه د ۱۳۰۰ش. کال د چنګاښ لومړۍ (د ۱۹۲۱ د جون ۲۲مه) ومنل شوه. دوهم، دریېم او څلورم توکونه یو پر بل نه تیری او په یوه بل لوري د کوم بل دریېم هېواد د تیري پر مهال ناپېیلی پاتې کېدل و. پینځم توك د سوداګریزو تړونونو د لاسلیك کولو د ډاك او قونسل د میشت کېدو او د تلګرافي اړیکو او مجرمینو د بېرته سپارلو په هکله وه. شپږم توك او له هغه سره نښلول شوی پروتوکول کې په شخړه ییزو ستونزو کې یوه منځګړي ته د موضوع د وړاندې کولو په هکله خبره شوې وه، چې البته دا د دواړو هېوادونو د ګټو لپاره یو عاقلانه تړون وشمېرل شو.

## ۳– له نورو دولتونو سره

د افغانستان دولت داسې هوډ درلود، چې د نړیوال سیاست په ډګر کې د یوه فعال عنصر په توګه برخه واخلي، نو ځکه یې له یو شمېر ډېرو لرې هېوادونو او هغو دولتونو سره هم د اقتصادي او سیاسي اړیکو د ټینګولو هڅې وکړې، چې د هغه مهال له افغانستان سره د هغو د اړیکو ټینګول ستونزمن کار

پکاره کېږي. د افغانستان دولت په پیل کې د ۱۹۲۱ کال د مارچ په لومړۍ نېټه د ترکیې له جمهوریت سره چې د سوابقو او دود-دستور له مخې د افغانستان د خلکو د پام وړ هېواد و. د دوستۍ یو تړون لاسلیک کړ او د ۱۹۲۸ کال دمی په ۲۵مه یې د دوستۍ او ګډو مرستو د یو تړون په ترسره کولو سره د دواړو هېوادونو تر منځ ژورې اړیکې پیل کړې او په دې توګه ترکانو د افغانستان په روغتیایي چارو او اردو په تعلیم کې اوچته برخه واخیسته. ورپسې افغاني زده کوونکي او زده کوونکې هم په ترکیه کې په زده کړو باندې بوختې شوې. جمال پاشا، بدري بك، ضیابك، جنرال خیرالدین پاشا، جواد بیك او جنرال کاظم پاشا ټول هغه کار پوهان وو، چې په افغانستان کې یې کارونه ترسره کول. همدا رنګه د افغانستان دولت د ۱۹۲۸ کال دمی په میاشت کې د مصر او افغانستان تر منځ د دوستۍ تړون لاسلیك کړ او د حجاز او یمن له حکومتونو سره یې خبرې پیل کړې تر څو ورسره دوستانه تړونونه ولري. خو په افغانستان کې د یوه اړ- دوړ رامنځته کېدو دغه چارې شاته واچولې. په داسې حال کې چې د افغانستان دولت د چین له دولت سره هم د دوستانه اړیکو د ټینګولو لپاره ګام اوچت کړی و. د افغانستان دولت تر ۱۹۲۸م. کال پورې د څو څو تړونونو په لاسلك کولو سره خپلې اړیکې له جاپان، سویزرلند، پولنډ، فنلنډ او لایبریا سره ساتلې وې، دا په داسې حال کې، چې د اروپا له یو دولتونو سره یې لا مخکې تړونونه لاسلیك کړي و. د افغانستان او ایتالیا تر منځ د دوستۍ تړون د ۱۹۲۱م. کال د جون په دریمه لاسلیك شو. د افغانستان او فرانسې تر منځ د سیاسي اړیکو تړون د ۱۹۲۲م. کال د اپریل په ۲۸مه لاسلیك، دې پسې وروسته په افغانستان کې د فرانسې د کیندنو امتیاز لیك د ۱۹۲۲ کال د سپتمبر په نهمه لاسلیك او فرانسویانو د افغانستان په روغتیایي او کلتوري چارو کې برخه اخیستل پیل کړل، فرانسې ته یو شمېر محصلان هم واستول شول. د جرمني دولت په افغانستان کې په ښه توګه هر کلی وویل شو، چې د دواړو هېوادونو تر منځ د دوستانه اړیکو تړون د ۱۹۲۶م. کال د مارچ په دریمه نېټه لاسلیك شو حال دا، چې جرمني متخصصین لا څو کلونه د مخه په بېلا بېلو څانګو کې په افغانستان کې په چارو بوخت شوي وو او افغاني زده کوونکو په جرمني کې زده کړه کوله. د هغو جرمنیانو شمېر، چې په افغانستان کې یې کار کاوه له ۲۰۰ تنو څخه هم زیات وو او خلکو ورته په ښه سترګه کتل. د افغانستان دولت په خپلو هڅو سره په بېلا بېلو مهمو اروپایي او آسیایي هېوادونو کې سفیران، قونسلګران او سوداګریز استازي وټاکل او نړیوال ژوند یې په پراخه کچه پیل کړ.

## ریفوم او تحول

د امان الله خان حکومت له انګریزانو سره د خپل حساب تر پاکولو وروسته، کورنیو اصلاحاتو باندې لاس پورې کړ. د افغانستان خلکو سره د پرمختګ هیله وه، ډېر په کلکه یې د دولت ملاتړ وکړ او ټولو ریفورمونو ته یې په عمل کې ښه راغلاست ووایه. لکه هغسې یې چې له انګریزانو سره په خپل سر و مال باندې هڅې وکړې، همداسې یې هم د نوي معارف د خپرولو په خپلو مالیاتي ورکړو او په څو روپیو کې د څوپیسو اعانې په ورکولو سره چې د معارف اعانه بلل کېده برخه واخیسته او د سړکونو په

غځولو کې په خپله خوښه حاضر شول او له نویو صنایعو او نوي نظام څخه یې په کلکه ملاتړ وکړ او دا، چې د هېواد ښځو په هېواد دننه ښوونځیو. ارشادالنسوان د جریدې په خپرولو، د ښځو د ملاتړ ټولنې په جوړولو او نورو چارو کې برخه واخیسته. په عمومي توګه خلکو په دغو ټولو نا آشنا ریفورمونو کې پرته له هېڅ تعصب او زور دود پالنې څخه له خپل خوان دولت څخه ملاتړ وکړ. په دې توګه پاچا وکولای شول، چې خپل ریفورمونه په لومړي پړاو کې له ۱۹۱۹ څخه تر ۱۹۲۴ پورې په بریالیتوب او زړورتوب د خارجي دسیسو او ارتجاعي قوتونو مخالفت سره سره تطبیق کړي. خو د ریفورم دوهمه مرحله چې له ۱۹۲۷ څخه وروسته زور وربانددې واچول شو. د هغو د پېرولو پر ګټورتوبونو سره سره په نطفه کې شنډ کړل شول. دا ځکه چې هېڅ حکومت او هېڅ وګړي تر هغه وخته پورې خپل هېواد ته یومترقي خدمت نشي کولای تر څو چې د خلکو پراخ ملاتړ ورسره نه وي. له دغه ډول ملاتړ پرته هره طرحه او هر اصلاحات ناکامیږي اګر که دغه سړی څومره هم ځواکمن او نابغه وي دا چې د امانیه حکومت د اصلاحاتو دوهم پړاو د ځینو له خوا یواځې او یواځې د روحانیونو او فیوډالانو د اقلیت د مخالفت پایله ګڼلې ده او دا یې یواځې یواځې د بهرني هېوادونو توطئه او مداخله بللې ده سم نه ده. همدارنګه د هغو خلکو دا ډول قضاوت، چې د اصلاحاتو ناکامي یې د افغانستان د ملت جمود او تعصب بللې هم سم نه دی، په واقعیت کې د افغانستان خلکو لکه د هرې بلې ټولنې په شان غوښتل، چې ترقي وکړي. د افغانستان تاریخ دانه راښیي چې د افغانستان خلك دې په هېڅ دوره کې د تمدن او فرهنګ په وړاندې دربدلې وي او مثلاً اوسني وخت کې چې د فابریکو، د وسپنې د پټلۍ، مدرسې، ورځپاڼې تخنیك او فن عصر دی، د ترقۍ په وړاندې ودرېږي. لکه هغسې، چې یې د محمودغزنوي پر مهال دا کار نه و کړی. اوس هم د ترقي او فرهنګ په ضد نه دربدل، البته زمونږ د خلکو پاڅون تل د ظلم او خیانت په وړاندې و. همدغو خلکو په اماني دوره کې له خپلې بېوزلۍ سره سره سرکونه جوړ کړل او ښوونځي یې ورغول او د معارف خپراوي ته یې اعانه ورکړه او خپلومالیاتو کې یې زیاتوالی ومانه د پکتیا خلکو، د هغه وخت د جرایدو په شهادت په خپله جواري خوږ، خو په خوست ګردیز او زرمت او ځمکنیو کې یې د څلورو ښوونځیو لپاره ۷۵ زره افغانۍ ټولې کړې، چې ۴۰۰ زده کوونکي یې لرل د کندهار هټیوالو په خپل لګښت ښوونځي جوړ کړ. په کابل کې یوه ورځ ملکې ثریا په نړۍ کې د ښځو د ترقۍ په هکله خبرې کولې او د افغانستان د ښځو وروسته پاتې حالت یې بیان کړ ښځو دردناکه ژړا وکړه او پنځوسو تنو ښځو سمدستي ځانونه د معارف چوپړ ته چمتو او د نجونو د لومړني ښوونځي بنسټ یې کېښود. ملکه دومره خوشحاله شوه، چې په خپله یې د مستوراتو د ښوونځي د مفتش دنده په غاړه واخیسته (۱۲۹۹ - مرغومی).

نو د افغانستان د اړ-دوړ او اغتشاش علت د دولت په ناوړه اداره او د دولتي مامورینو په بې کفایتۍ کې و، چې هره مهمه، حیاتي او سپېڅلې دنده یې د رشوت او خیانت په ناولتیا ککړه کړې وه. له دې لامله، چې پاچا او دولت د خپلو خلکو له ملاتړ څخه بې برخې شو او نور نو یواځې پاتې و، نو دا وخت بهرني دښمن د خلکو له دغې عمومي نارضایتۍ څخه غلطه ګټه پورته کړه او ارتجاعي اقلیت او

مسلوب الحقوق قوت یې چې د دولت او ریفورم په دښمن باندې بدل شوی و، ډېر ته رادننه کړ. چې د دوی د خرابکاری له لامله دولت راوپرځېد. که نه همدغه مخالف قوتونه او بهرني دښمنان لا موجود او فعاله وو، چې دولت د خلکو په ملاتړ دواړو ته ماتې ورکړه او پر مخ ولاړ. د هغه مهال خوشباورو جرایدو د کلنل لارنس دجادویي ځواك په هکله یادونې وکړې، خو دغې خبرې ته یې ډېر پام ونه کړ. چې آیا ولې لارنس د افغانستان د خپلواکۍ په لاره کې خنډ جوړ نه کړای شواو یا هم ولې یې د مصطفی کمال د رژیم له منځه وړلو هڅه ونه کړه او په هغه ولې بریالی نشول. نوپایله دا راوځي. چې په خپله د افغانستان دولت و، چې له لارې کوږ شو او د ریفورم د نړېدو زمینه یې برابره کړه او د بهرنیو جاسوسي لاسونواوکورنیو ارتجاعي ځواکونو لپاره یې لار هواره کړه، که نه همدا بهرني جاسوسي لاسونه او ارتجاعي کورني قوتونه موجود و، چې د صادقانه اوصمیمي ریفورمونو په مرحله کې یې هېڅ دښمنانه فعالیت ونشو کولای.

## مالي او اقتصادي چارې

امیر امان الله خان په لومړي پړاو کې د خپلو اصلاحاتو په تطبیق کې بریالی و او هغه دا. چې د ملت د اکثریت (بزګرانو، شپنو او پیشه ورانو) په وړاندې یې پخواني درانه بارونه سپك کړل. جنسي مالیات، د خریدارۍ د غلې حواله کول، اجباري آذوقه رسول ډېرو زیاتو پړاوونو ته. د دولتي مالیاتو د راټولولو اجاره داري. د مالیه ورکوونکي او مالیه اخیستونکي تر منځ د فیوډال او ملکانو واسطه. د قریه داري تشکیل، د ناشمېرل شویو څارویو دمالیاتو اخیستل، اجباري کار او بیګار، له پیشه ورو او صنعتکارو څخه د بازار بېلا بېل ټکسونه او نور یې ټول منع کړل. د ځمکې مالیات په نغدي بڼه واړول شول او ټول مالیه ورکوونکي په سیده توګه پرته دملك او خان په پام کې نیولو څخه د دولت له مالي دفترونو سره وتړل شول. دولت خپل ټول ضرورتونه په نغدو پیسو او په خپل زړه پیرودل. د څاروي روزونکو څاروي هر کال شمېرل پیل شول او د هغو د موجودیت له مخې به مالیه اخیستل کېده او ددې موخې لپاره یو جلا قانون چې "قانون مواشي" نومېده، جوړ شو.

په کابل کې د مالیې د اداراتو د چارو د تنظیم په خاطر د (اصول دفتر) ښوونځی پرانیستل شو، چې مدیر یې مرزا مجتبی خان و او ددغه ښوونځي فارغان به د هېواد د مالیې په ماموریتونو کې ګومارل کېدل. دغه کار دهېواد زړې حسابي چارې په یوه نوي عصر سیستم باندې واړولې، چې ښاري بڼه یې غوره کړه. د کرنې مامورینو او د مالیاتو د تحصیل لپاره په ۱۹۲۳م. کې یو شمېر قوانین جوړ او وضع شول.

د با خبره حکامو دروزنې په خاطر په مرکز کې د حکامو ښوونځی جوړ او فارغان یې سیمه ییزو ادارو کې مقررېدل او د حکامو او مامورینو د دندو قانون یې جوړ او داداري د تنظیم چارې یې په ۱۹۲۲کال کې سمبالې کړې. له دې څخه یو کال مخکې یې د (تشویق ضایع) په نوم قانون پاس کړی و، چې د مالیاتو دریفورم له طریقه یې د صنایعو وده هڅوله همدارنګه دتولیداتو د هڅونې په خاطر یې (تقاوي)

Scanned by CamScanner

وضع کړه. سره له دې، چې د دولتي املاکو د پلورنې قانون په ۱۹۲۳ کې د ځمکو د له لاسه وتلو او د بزګرانو دزيانمن کېدو لامل شو او له بلې خوا يې خصوصي ملکيتونه پياوړي کړل، خوبيا هم يو قانون جوړ شوا و موقوفه اراضي هم لا د مخه له منځه ولاړل.

سوداګري هم پراخه شوه، بې شمېره د هېواد دننه ګمرکونه راکم کړل شول. ددغو ټولو ريفورمونو په پايله کې د پانګوالي پرمختګ ګړندی شو او د سوداګريزو معاملاتو لپاره شرعي محکمې جوړې شوې او يو شمېر تجارتي شرکتونه لکه تنويرات، موټر، درمل، رفقای افغان، اتحاد افغان، قمر، ضياء او جرمني شرکتونه او د شوروي تجارتخانه او نور جوړ شول. د انګليس له دولت سره يو سوداګريز قرارداد لاسليك شو. د افغانستان سوداګريز استازي (قونسل اووکيل التجاره) د افغانستان ګاونډيو هېوادونو کې وګومارل شول او سوداګريزې چارې يې آسانه کړې. دولت هم ملي تجارتي موسسات لکه امانيه شرکت او ثمر شرکت اونور جوړ کړل. له دې لامله چې تر دې مهال پورې په افغانستان کې د اروپا پانګه نه وه راغلې، خو ورووړو د اروپا سوداګري مخ په پياوړتيا وه. خو دغه ډول سوداګري د داخلي صنايعو د پرمختګ لپاره خنډ شوه، دا ځکه چې دهېواد اقتصاد په ډېر لومړني حالت کې او وروسته پاتې و، مملکت کومې فابريکې، پاخه کارګرا او دوسپنې پټلۍ نه لرله، نو ځکه امانيه دولت په دې لټه کې شو، چې افغانستان ته فابريکې او د وسپنې پټلۍ راولي او د ۱۳۰۷ کال په لويه جرګه کې يې دا خبره توضيح کړله، چې دولت د الوتکو د ترميم ديوې فابريکې په لټه کې دی او له موجوده د فابريکې پرته به يوه فابريکه هم د سپينو باروتو د توليد لپاره جوړه شي (په افغانستان کې لومړنی باروت جوړوونکي ترکي متخصص رضابيك و چې د لومړنۍ نړيوالې جګړې د کلونو په ترځ کې دلته اوسېد او سپين باروت يې جوړول. دغه شخص په ۱۹۲۱م. کال کې ومړ او پاچا په خپله د هغه په جنازه کې ګډون وکړ دهغه يو شاګرد فيض محمد نومي د) دولت له دوو فرانسوي اوجرمني شرکتونو سره يو قرارداد لاسليك کړ، چې د هغه له مخې به په لسو کلونو کې د وسپنې پټلۍ له جنوب څخه تر شمال پورې وغځول شي (ددغه کار د سروې لپاره څلور تنه فرانسويان کابل ته او بيا له دې ځايه کندهار ته ولاړل) همدا رنګه د تيليفون او او تلګراف د لين د غځولو چارې له مرکز څخه تر ولايتونو پورې پيل شوې، په پغمان، جلال آباد او کندهار کې د برېښنا په ستيشنونو باندې کار پيل شو. د څرمن جوړولو، باروت جوړولو، سمنټو او ګوګړ جوړولو فابريکو ته برېښنا ورسول شوه، د موټر د ترميم، د پرزو جوړولو، صابون، عطر. تار جوړولو او رخت او بدلو، ترکانۍ او يخ جوړولو فابريکې او د پومبې د غوړ ايستلو ماشينونه په کندهار، مزار اوهرات کې جوړ او ودرول شول. په همدې ډول د لاندنيو فابريکو جوړول هم په پام کې ونيول شو: قندسازي، نساجي، د نخي او جيم ټوکرانو جوړولو فابريکه، د تنې جوړولو فابريکه، دميوې ساتنې فابريکه، د کوچ او پوڅې جوړولو فابريکه، د تيل خاك فابريکه او د کابل، مزار شوروي او ايران اوترکيې تر منځ د هوايي ډاک د چارو پيل کول. د غزني د سراج اوبندغازي د اوبو بندونه جوړ شول، د ځمکنيو د اوبو د بند تړل او د نهر رزاق بشپړول هم تر لاس لاندې ونيول شول. دولت د جرمني له هېواد څخه د کاملته الوداد تجارتي معاملو حق او د پولند له هېواد

Scanned by CamScanner

د ترانزیت حق ترلاسه کړ او له مسکو او برلین سره یې د سوداګریزو قراردادونو په هکله خبرې
شخه یې د نورو قراردادونو د ترسره کولو (د بدخشان د لاجبرو، د هرات د تیلو او د وسپنې ویلې کولو
پیل کړې د نورو دکانونو، د ډبرو د سکرو، ګوګړو، سرپو، شوکانې، مرمر، سپینې خاورې او نورو چارو) په
، د وسپنې پروګرامونه تر کار لاندې ونیول او د پکتیا، اسمار، او نورو ځنګلونو د تنظیم او ادارې لپاره
خاطر یې پروګرامونه پیل کړل. همدا رنګه د آسونو د نسلونو د زیاتوالي، قره قل د نسل د عمومیت موندلو
یې پروګرامونه پیل کړل. همدا رنګه د آسونو د نسلونو د زیاتوالي، قره قل د نسل د عمومیت موندلو
یې پروګرامونه د چینجیو د روزنې لپاره پلانونه جوړ شول. په کابل کې دملي صنایعو نندارتون جوړ شو.
او د وریښمو د چینجیو د روزنې لپاره پلانونه جوړ شول. په کابل کې دملي صنایعو نندارتون جوړ شو.
د دولت مامورینو ته له وطني رخت څخه د جامو استعمال جبري شو[1] ددغه ریفورمونو په پایله کې د
دولت عایدات له پخوا څخه زیات او دوه برابر شول او په کال کې له ۸۰ میلیونو روپیو څخه ۱۸۰
میلیون روپیو ته ورسېدل. دغه عاید له لاندنیو سرچینو څخه و:
د ځمکو مالیات ۸۰ میلیونه، د څارویو مالیات ۲۵ میلیونه، ګمرکي مالیات ۴۰ میلیونه د صکوکو
محصول لس میلیونه، نور عواید ۲۵ میلیونه او ټول ۱۸۰ میلیونه روپۍ. د دولت لوی لګښتونه دا وو:

☑- د حربیې وزارت : ۴۰ میلیونه
☑-د معارف وزارت: ۱۵ میلیونه
☑- د بهرنیو چارو وزارت: ۷ میلیونه
☑- د مالیې وزارت: ۳ میلیونه
☑- د تعمیراتو لګښت: ۱۰ میلیونه
☑- د دربار وزارت: ۲۰ میلیونه
☑- دکورنیو چارو وزارت: ۱۲ میلیونه
☑- د عدلیې وزارت: ۲ میلیونه
☑- نور لګښتونه خریداري او یو څه سپما ۲۷ میلیونه روپۍ.

په دې وخت کې د افغاني پیسو ارزښت داسې و، چې سل کابلۍ روپۍ ۲۰ هندي کلدارې کېدلې. دا
ځکه چې د کلداره سپین زرو روپیو دروندوالی دوه نیم مثقاله او د کابلي سپینوزرو د روپیو وزن دوه
مثقاله و، خو دکابلیو روپیو (غش) په سلو کې لس و، وروسته بیا په افغاني روپیو کې غش په سلو کې
۲۵ ته پورته شو او بیې یې د بهرنیو نورو پیسو او په تېره بیا د هندي کلدارو په وړاندې کال په کال
کمښت وموند، نوځکه د ریفورم په لومړي پړاو کې د کابل په بازارونو کې د لومړنیو اړتیا وړ شیانو
بیې په دې توګه وې:
د کابل دونیم چارکه اوړه- یوه روپۍ (په تاشقرغان کې د کابل اته چارکه په یوه روپۍ) د کابل درې پاوه
غوښه یوه روپۍ (په تاشقرغان کې د کابل یونیم چارکه په یوه روپۍ)، غوړي یو پاو او دولس مثقاله په
یوه روپۍ (په تاشقرغان کې یو نیم په یوه روپۍ)، نرۍ وریجې په کابل کې یو چارك او درې پاوه یوه
روپۍ (په تاشقرغان کې یو چارك او درې نیم پاوه په یوه روپۍ)، وازګه په کابل کې دوه نیم پاوه یوه

۱- و.ګ. لایحهٔ ترقیات چهارساله دولت، درفیق شرکت مطبعه، ۱۳۰۷ش. کال.

Scanned by CamScanner

روپۍ، هندوانه من په یو غیران. البته نویو ریفورمونو پیسې غوښتې، نو ځکه دولت د مالیاتو په زیاتولو لاس پورې کړ. د بېلګې په توګه د ابي ځمکو مالیات، چې پخوا د جریب په سر پینځه روپۍ، اته روپیو ته پورته شول او د څارویو مالیات هم زیات شول. د اوښ مالیه له دریو څخه څلورو روپیو ته، د آس مالیه له دوو څخه دریو روپیو ته. غویان له یوې روپۍ څخه دوو روپیو ته. د خره مالیه له دولسو پیسو څخه یوې روپۍ ته او د پسه مالیه له اووه پیسو څخه پنځوسو ته لوړه شوه. په ۱۹۲۰ کال کې کاغذي یوه پینځه، ۲۵، ۵۰ او سلګیز افغانیګي نوټونه چاپ او خپاره شول او د سرو زرو سکې پینځه امانیه په ۷۵ روپۍ، دوه امانیه په ۳۰ روپۍ او یوه امانیه په ۱۵ روپۍ او نیم امانیه اووه نیمې روپۍ وه. همدا رنګه فلزي مسکوکات (سپین زر او مس د پیسو د واحد روپۍ اجزاوو) کونډه کېدل د مقیاساتو قانون په ۱۹۲۲ کال کې وضع شو.

## کلتوري چارې

د افغانستان د لومړني اساسي قانون د ۶۸ مادې له مخې لومړنۍ زده کړې تر ابتدایه درجې پورې اجباري شوې او په پلازمینه کابل کې د حبیبې له لیسې پرته د امان او اماني لیسې د فرانسوي، جرمني او کورنیو پروفیسورانو او استادانو په واسطه پرانیستل شوې، د غازي رشدیه ښوونځي د استقلال رشدیه، د تلګراف، انځورګري، ترکاڼي، معماري، ژبې، کرنې، عربي دارالعلوم، د مستوراتو رشدیه، د جلال آباد رشدیه، د کندهار د کرنې رشدیه، د هرات رشدیه، د هرات دارالمعلمین، د مزارشریف رشدیه، د قطغن رشدیه د پولیسو ښوونځی، د موزیک ښوونځی، د غالۍ او بدلو، د نجونو لپاره تدبیر منزل، طبیه ښوونځي، مستورات او له ۳۲۲ څخه زیات لومړني ښوونځي د هېواد په ټولو ولایتونو کې پرانیستل شول. تر ۱۹۲۷م. کال پورې د لومړنیو ښوونځیو د زده کوونکو شمېر ۵۱ زرو ته ورسېد. رشدیه او لیسه ښوونځیو او مسلکي لیسو کې د زده کوونکو شمېر درې زره تنو ته ورسېد، چې د نظامي مدرسې زده کوونکي په دې شمېر کې نه راتلل. په همدې کال کې د لومړنیو ښوونځیو شمېر ۷۵۰ تنه، د رشدیه ښوونکو شمېر سل تنه زیات شول. له ۱۹۲۳ کال څخه تر ۱۹۲۷م. کال پورې ۱۳۳ عنوانونه کتابونه د ۲۹۳۵۷۵ ټوکو په شمېر د معارف د وزارت له خوا چاپ شول او د معارف مطبعه هم جوړه شوه. باید په یاد ولرو، چې د افغانستان د هغه مهال د ښوونځیو په درسي پروګرام کې د انداخت نظري او علي فن هم شامل و. څو سوه زده کوونکي هم شوروي اتحاد، جرمني، فرانسې، ایټالیا او ترکیې ته د معارف وزارت په لګښت د تحصیل لپاره واستول شول. په بل کال څو تنه نجونې ترکیې ته د تحصیل په خاطر واستول شوې. همدا رنګه انګلستان ته هم د څو تنه زده کوونکو لېږل په پام کې ونیول شول. د معارف د وزارت بودجه د حرب او دربار له وزارت څخه وروسته په دریم کتار کې راتله. ښوونه او روزنه د انتظام له پلوه په پرانیستي فضا کې وه، له سیاسي پلوه کوم تهدید او ویره نه وه، نو ځکه د ښوونکو او زده کوونکو روحیه له خوښۍ ډکه او عالي وه. دولت دا په پام کې ونیوله، چې په پلازمینه کې دوه لوی کتابتونونه جوړ کړي، په داسې حال کې چې د کابل روڼ اندو دیوه شل کسیز

پلاوي په لاس له خپلو شخصي کتابونو څخه یو ملي کتابتون په کابل کې جوړ کړی او دولت د یوې
ودانۍ او د نایب السلطنه د یوه بډایي او ښکلي کتابتون په ورکولو سره هغه نوره هم بډایه کړه (چې په
هغې کې ډېرې قیمتي خطي نسخې هم وې) همدا رنګه دولت په کابل کې یوه سینما او په پغمان کې یو
تیاتر جوړ کړ او د دولت په لګښت ۱۳ جریدې او مجلې په کابل او ولایتونو کې خپرېدې لکه: ارشاد
النسوان په ۱۹۲۲م. کال کې دغه اووه نیزه په اتو پاڼو کې د کابل ښځو خپروله، چې سرمحره یې الف. ر
او میرمن روح افزا وه، چې یو شمېر ادبي مسایل، آفاتي معلومات، تدبیر منزل او نور معلوماتي
مسایل پکې خپرېدل. د اتحاد مشرقي اخبار په جلال آباد کې په ۱۹۲۱ کال کې د برهان الدین
کشککي په مدیریت سره په میاشت کې دوه ځله خپرید. د افغان ورځپاڼه د مرزا محمد جعفرخان په
مدیریت له ۱۹۲۲ څخه پیل شوه، چې کورني او بهرني خبرونه یې هره ورځ خپرول. د معارف نامتو
مجله (چې وروسته بیا آئینه عرفان ونومول شوه) له ۱۹۲۱ څخه د معارف له وزارت څخه په خپرېدو پیل
وکړ او له ۱۹۲۳ کال څخه وروسته یې مدیریت استاد هاشم شایق ته وسپارل شو. د امان افغان اونیزه
جریده له ۱۹۱۹م. څخه وروسته د عبدالهادي خان داوي په مدیریت سره او بیا د میرسیدقاسم خان په
مدیریت خپره شوه. د اردو مجله د عبداللطیف خان غونډمشر غازي په مدیریت په میاشت کې یو ځل د
حربیې د وزارت د ارکان حرب د ریاست له خوا خپرېده. د اتفاق اسلام جریده له ۱۹۲۱ څخه وروسته په
اونۍ کې یو ځل د عبدالله خان هروي په مدیریت سره له هرات څخه خپرېده. اتحاد جریده په اونۍ کې یو
ځل له خان آباد څخه له ۱۹۲۱ کال څخه وروسته په خپرېدو پیل وکړ. په کابل کې ابلاغ ورځپاڼې له
۱۹۲۱ کال څخه وروسته په خپرېدو پیل وکړ، چې یوازې اعلانونه یې خپرول. بیدار ورځپاڼې له مزار
شریف څخه په خپرونو پیل وکړ. حقیقت جریده اونۍ کې درې ورځې په کابل کې د برهان الدین په
مدیریت چاپ ته سپارل کېده. همدا رنګه د ستاره افغان انتقادي جریده په اونۍ کې یو ځل له ۱۹۲۰م.
کال وروسته په خپرونو پیل وکړ. چې د همدغه کتاب لیکوال (غبار. ژ) په مدیریت سره له جبل السراج
څخه خپرېده. طلوع افغان له ۱۹۲۱م. کال وروسته په اونیز ډول په کندهار کې په فعالیت پیل وکړ. د
افغانستان د اساسي قانون د یوولسمې مادې سره سم د هېواد سیاسي زمینه ملي خپلواکو خپرونه ته
چمتو شوې وه او ویل شوي وو چې: مطبوعات او کورني اخبارونه، د یوې خانګړې نظامنامې سره سم
آزاد دي.

په دې توګه په ۱۹۲۷م. کال کې د لومړي ځل لپاره د انیس اونیزه جریده، د هغه د لیکوال او مؤسس
غلام محی الدین خان انیس (چې د بحران او نجات او طلبهٔ معارف کتابونو لیکوال هم و) له خوا په ۱۲
مخونو کې په خپرونو پیل وکړ، چې د هېوا روڼ اندو ورته ډېر ښه هر کلی ووایه. په همدې کال کې د
(نسیم سحر) اونیزه د احمد راتب خان په مدیریت سره په څلورو مخونو کې په خپرونو پیل وکړ، چې
زیاتره مقالې یې د عبدالهادي خان داوي په قلم لیکل کېدې. له دې څخه یو کال وروسته (نوروز) په
میاشت کې دوه ځله چاپ او د میرزا محمد نوروزخان په مدیریت او د میرغلام خان په لیکوالۍ سره په
اتو مخونو کې راووته. میرزا میرغلام خان د روحاني قشر یو استازی و، چې وروسته یې بیا په ۱۹۳۰م.

کال کې د امان الله خان له پرځېدو څخه وروسته خپل نظر د انیس د ورځپاڼې د ۱۳۰۹ش. کال د وږي د میاشتې په ۳۱ نېټه ګڼه کې خپور کړ. ملا میر غلام خان د مدعي العموم په توګه په خپله دغه تفصیلي لیکنه کې خپل ډېر کلك اعتراضات د امانیه رژیم په ضد په لاندې توګه لیکلي و:

"فراري پاچا ولې ملا، خان او ملك ته بې اعتنايي وکړه، ولې يې د هندوستان د ديوبند د مدرسې تحصیل کرده (سبق ویلي) ملایان تبعید کړل؟ ولې یې په افغانستان کې د ښځینه معارف بنسټ راپیل کړ. همدا رنګه ملا میرغلام خان د شاه امان الله او محمود طرزي په هکله په دغه لیکنه کې سپکاوی کړی، خو د هغې دورې یو شمېر نور کسان لکه الله نوازخان، محمد ګل خان مومند او د شیخانو استازي یې ستایلي و.

## اداره

دولت تر هر څه زیات د افغانستان د ملي یووالي د بنسټ ټینګولو ته پاملرنه وکړه او په عاقلانه توګه یې دغه ملي یووالی د وروری او د افغانستان د خلکو د مساوي حقونو په پام کې نیولو سره په پام کې ونیول. د اساسي قانون په اتمه ماده کې وویل شول چې:
"ټول هغه وګړي، چې په افغانستان کې اوسېږي پرته د دیني اومذهبي توپیر څخه د افغانستان اتباع بلل کېږي" په نهمه ماده کې ویل شوي وو، چې "د افغانستان ټول اتباع په دیني او مذهبي چارو کې د دولت د سیاسي نظام تابع دي او د شخصي حقونو د آزادي لرونکي دي." په لسمه ماده کې راغلي وو، چې "شخصي حریت له هر ډول تعرض او مداخلې څخه خلاص دی، هېڅوك پرته له شرعي حکم څخه او قانوني نظام څخه توقیف او مجازات کېدای نشي. په افغانستان کې د اسارت اصول بېخي موقوف دي".
په ۱۲مه ماده کې راغلي وو: "د افغانستان ټول اتباع د شریعت او د دولت د نظام په وړاندې د هېواد په وظایفو او حقونو کې مساوي برخه لري."
په ۲۲مه ماده کې وایي: مصادره او بیګار تحریم شو. په ۲۴مه ماده کې شکنجه او هر ډول کړاو منع کړل شو او د کور او لیکونو مصئونیت ډاډمن شو. ددغه قانوني موادو روح داسې و، چې عملاً تر تطبیق لاندې و او له ناولتیا، دوکې غولولو او درواغو او نفاق څخه پاك و، همداسې هم دیني مراسم او د امامیه مذهب د پیروانو تکیه خانې هم عملاً آزادې شوې او د عبدالرحمن د دورې میراث هزاره مریيان له مریتوب څخه آزاد شول او په دې ډله کې په کابل کې د دوی اووه سوه تنه وینځې او مریيان د خپلو اربابانو له کورونو څخه ووتل. د کندهار، غزني او جلال آباد د ښارونو د مشورې په مجلسونو او د معارف په انجمن کې یو یو تن د افغانستان له هندوانو څخه په په انتخابي توګه وګومارل شول او په اداري چارو کې ورته ونډه ورکړل شوه، د پاچا امان الله خان د ۱۲۹۹ کال د وري د میاشتې (۱۹۲۰ کال مې) د فرمان له مخې دژېړي لونګۍ د حتمي په سر کولو اومعجر اغوستو او د دوی د جزیې باقیات لغو شول او د هندوانو بچیان په ملکي او نظامي مدرسو کې (لکه حبیبې او حربیې) کې شامل او دارد په

Scanned by CamScanner

افسري کې هم ومنل شول. د قوم، ژبې او نژاد له مخې هر ډول تبعیض له منځه ولاړ، د محمدزیو دقوم نسبي او مستمري معاش، د خانانو او روحانیونو امتیازات لغوه شول او د ټول ملت حقونه مساوي اعلان شول. د دولت ماشین هم په درې څواکونو یعني اجرائیه، مقننه او قضایه باندې ودرول شو، البته دغه تشکیل یو ځانګړی جوړښت درلود. مثلاً پاچا هغه پخوانی د مشرانو جرګه چې دارالشورا بلل کېده، یو څه بدلون سره د شورای خاص په نوم ونوموله او وروسته بیا ددولت دشورا په نوم یاده شوه. په دغه مجلس یا جرګه کې یو شمېر انتصابي غړي د پاچا له خوا او یو شمېر انتخابي غړي دملت له خوا غوره کېدل او په ولایتونو کې د لومړۍ درجې، دوهمې او درېیمې درجې حکومتونو او علاقدار یو یو مجلس درلود، چې په هغه کې به د سیمې رسمي مامورین شامل وو او انتخابي غړي یې د خلکو له خوا په مساوي توګه غوره کېدل. د دولت شورا قانوني پروژې تر دقت او غور لاندې نیولې او د وزیرانو د مجلس د تصویب په خاطر یې د پاچا لاسلیک کولو ته استولې. همدغه مجلس ددولت بودیجه، مقاولات او قراردادونه او بهرنیانو سره تړونونه هم تر کتنې لاندې نیول. د دولت د شورا واک او دندې او د ولایتونو مشورتي جرګې د اساسي قانون په ۳۹- ۴۹ مادو کې او همدا رنګه د اساسي تشکیلاتو په قانون کې ټاکل شوې وې.

د هېواد قضایه قوې چې له پخوا څخه یې یو څه پراخه واک او یو څه ځانګړې خپلواکي لرله د هغوی خپلواکي دولت د قانون د ۵۳ مادې له مخې محترمه وګڼله، خو د هغو د حکم درجه یې قید کړه، په دې معنا، چې قاضي به پخوا ځان په جزایي برخو کې د هر فعال او څرنګه به یې چې زړه و هغسې باله او د تعزیر وسیله د هغه په لاس کې د یوې تیرې وسلې په توګه وه، دا ځکه چې د جرم له پېښېدو مخکې جزا ثابته او ټاکلې نه، بلکې د قاضي په واک کې وه او د هغې د شخصي قناعت له مخې به ورکول کېده. قاضي کولای شول، چې په یوه جرم کې تورن کسان د هغوی د ټولنیز دریځ، ظاهري حالت او نورو له مخې په سزا ورسوي او سزا د غوږ له تاوولو نیولې بیاتر اعدام پورې وه او هر ډول به چې قاضي وغوښتل دغه سزاګانې ورکول کېدې. پاچا امان الله خان د یو شمېر متجددو فقهاوو په مرسته، چې د هغو په سر کې د مولوي صاحب عبدالواسع خان کندهاري نوم یادېدای شي، ددوو ټوکو کتابونو په تألیف سره د قاضي له خوا ورکول کېدونکي سزاګانې محدودې او تعزیر یې په تقدیر واړاوه. ددغو کتابونو نوم "تمسك القضاة امانیه" و یعني تمسك القضاة یې د یوه جلا قانون په بڼه او مدون جزایي قانون په شکل جوړ کړ، چې د هر جلا جلا جرم جلا جلا سزا پکې لیکل شوې وه، په دې توګه قاضي نشو کولای، چې په خپله خوښه دغه سزا کمه یا زیاته کړي، په دې توګه په افغانستان کې دا بېخي یو نوی فقهي بنسټیز بدلون و، خو قاضیان یې د تل لپاره له دولت څخه بېزاره او له نویو تحولاتو سره یې نه پخلا کېدونکي کړل، محکمې د اساسي قانون له مخې د نورو له لاسوهنې څخه خپلواکه شوې او د تورنو محاکمې کولو هم علني او څرګنده بڼه غوره کړه. له دې پرته دولت د حقوق الله او حقوق العبد موضوعات یو بل څخه جلا کړل او داسې یوه قضیه، چې قاضي به د خپل واك له مخې پکې تبرئه کېده، دولت هغه له خپل لوري د پولیس داداراتو او ولایتي مشورتي جرګې له لارې تر تعقیب لاندې نیوله او

Scanned by CamScanner

مجرم ته به یې سزا ورکوله.

د افغانستان اجرائیه قوه په ۱۹۱۹م. کال کې په لاندې توګه تشکیل شوه: صدراعظم (سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله)، حربیه وزارت (سپه سالار صالح محمدخان وزیر)، د بهرنیو چارو وزارت (وزیر محمود طرزي)، د کورنیو چارو وزارت (وزیر علي احمد خان شا آغاسي)، د مالیې وزارت (مرزا محمود خان پخواني امین نظام)، د سوداګرۍ وزارت (وزیر غلام محمدخان وردګ)، د عدلیې وزارت (محمدابراهیم خان) د معارف وزارت (سردار عبدالحبیب خان) د کرنې وزارت (وزیر علي جان خان) او دنقلیې وزارت (مرزا غلام قادرخان) چې ددې ټولو په سر کې پاچا و او حربیې وزارت یې په بیده توګه تر څارنې لاندې و، وروسته بیا نقلیه وزارت لغوه او د عمومي امنیې وزارت جوړ شو (وزیر یې شجاع الدوله خان امین العسس و) همدارنګه یو طبیه خپلواک مدیریت جوړ شو، چې د هېواد روغتیا چارې یې سمبالولې او په مرکز او ولایتونو کې یې د روغتونونو او روغتیایي مدیریتونو په جوړولو لاس پورې کړ (مدیر یې سردار محمد کبیرخان و).

دولت د هېواد د چارو د سمبالښت په خاطر د بېلا بېلو قوانینو وضع او اجرا کول تر کار لاندې ونیول او د دولت د شورا او د وزیرانو (کابینې) او د لویو جرګو په واسطه یې یو شمېر قوانین وضع او تصویب کړل لکه: د القابو قانون، دنفوسو تذکره، دولتي ودانۍ، د حاکمانو او مامورینو د دندو ویش، تقاوي، د صنایعو هڅول، جیلونه، تحصیلي (مالیه اخیستل) د یتیمانو روزنه، نظامي تعلیم نامې، للمې کرنه، عسکري خدمت، د دولتي ملکیتونه پلورل، قونسلري، قریه داري، د شرعي محکمو قانون، د سوداګریزو معاملاتو قانون، تعزیه (ماتم) د کورني ښوونځیو قانون، مطبوعات، مقیاسات، د څارویو محصول، د ښښانونو قانون. نکاح او د ماشومانو ښنتول، د کرنې د مامورینو معارف، او نور قوانین او مقررات، چې ددې ټولو په سر کې اساسي قانون او د عمومي جزا اساسي تشکیلات او عسکري جزا قانون و. قوانین باید د وزیرانو په مجلس کې تصویب او بیا د دولت د شورا له خوا منل شوي وای په پای کې پاچا لاسلیك کول. د دولت په شورا کې یو شمېر روڼ اندو لکه فیض محمدخان ناصري، سعدالدین خان وکیل او داسې نورو غړیتوب درلود او یو شمېر نور لکه ترکي جمال پاشا او ترکي متخصص بدري بېګ شامل وو، چې د قوانینو د پروژو په ترتیب کې یې برخه لرله، خو اساسي قانون یوې ۸۷۲ کسیزې لویې جرګې ته په جلال آباد کې وړاندې شو، چې په هغې کې د ملت استازي او د حکومت غړي را ټول شوي وو، او په دغه لویه جرګه کې تصویب شو، وروسته بیا دغه قانون په پغمان کې د ۱۳۰۳ش. د چنګاښ د میاشتې په لویه جرګه کې تصدیق او لاسلیك شو. او د شاهي اعلانونو په واسطه په ټول هېواد کې خپور شو. دغه قانون یو ځانګړی حقوقي خاصیت درلود، چې د هغه د ۳۱ مې دې له مخې فقط کابینې د پاچا په وړاندې مسئولیت درلود او د شپږمې مادې له مخې پاچا غیر مسئول و، وروسته بیا پاچا د صدارت چارې هم ترلاسه کړې او تر پایه پورې د یوه غیر مسئول صدراعظم په توګه پاتې شو. د قوانینو وضع کول هم د دولت د شورا په ترتیب او د وزیرانو مجلس په تصدیق او د پاچا په لاسلیك سره نافذ کېده.

لویو جرګو ځانته ځانګړې نظمیه لایحه او مقررات لرل او د غونډو د جوړېدو پروګرام یې هم درلود. د
پغمان په وروستۍ لویه جرګه کې (چې په ۱۳۰۷ ش. کال جوړه شوه) د ملت زرتنو انتخابي استازیو او د
پاچا انتصابي غړو برخه لرله، چې د پغمان د تیاتر په غولي باندې په پېنځو کتارونو کې کښېناستل. د
څنګ په کتارونو کې د ملت وکیلان او په منځنیو کتارونو کې د دولت د شورا انتخابي استازي او د
ولایتونو د مشورتي جرګو استازي کښېناستل. د پاچا تخت د ستیژ پر سر باندې و، چې ښي لاس ته یې
د تمیز د محکمې علما او د غونډ مشر تر رتبې پورې نظامي افسران. د دولت د شورا انتصابي غړي او
نظامي کنډکمشران او کیڼ لاس ته یې د محکمو قاضیان او د وزارتونو رئیسان او مدیران کښېناستل د
رئیس (د غونډې د مشر) او د هغه دوه مرستیالان او د مجلس د منشي ځوکۍ اېښودل کېدې. هر هغه چا
چې خبرې کولې هغه به له غولي څخه پاڅید او د ستیژ سرته به له ښي لوري څخه راته او د میکروفون له
لارې به یې خبرې کولې. مصوبات د رایو په اکثریت سره د منلو وړ و، چې په صندقونو کې به د تورو او
سپینو مریو په اچولو سره شمېرل کېدې. د هېواد په نهواد لرې واحدونو (پېنځو ولایتونو او څلورو
اعلی حکومتونو) کې لاندیني مامورین د مشورتي جرګو تر څنګ په کارونو بوخت وو: نایب الحکومه،
مستوفي، د مرافعې قاضي د ابتدائیې قاضي، د کوتوالی قوماندان. د ګمرك مدیر، د نفوسو مدیر، د
روغتیا مدیر، د معارف مدیر، د ډاك مدیر، د ولایت د تحریراتو مدیر، د بهرنیو چارو مامور او خزانه
دار. د دوی تر څنګ به یو ځای نظامي قوماندانان، نظام دفتري او په ښارونو کې د ښاروالي مشران وو.
خو د ولایتي مشورتي په جرګه کې به یوازې هغه دولتي مامورین و، چې تل به پکې په کار بوخت و،
چې د هغوی ټاکل د پاچا د فرمان له مخې کېدل لکه: نایب الحکومه یا اعلی حاکم، مستوفي یا اعلی سر
رشته دار، د کوتوالي قوماندان، د مرافعې قاضي، د ګمرکاتو مدیر، د مجلس منشي او د تحریراتو
مدیر. د هېواد د ولایتونو په اداره کې د قانون له مخې لاندیني اساسات په پام کې نیول کېدل: د ما
ذونیت پراختیا، د دندو ویش او د مسئولیت ټاکل.

دولت د خپلو ریفورمونو په نظامي چارو کې هوایي ځواك هم ور زیات کړ، چې یو ولس الوتکې یې لرلې
او په دغه ځانګه کې یې ۱۲ تنه محصلین روسیې، فرانسې او ایټالیا ته واستول او څو تنه نور یې په
نظامي ځانګو کې شوروي اتحاد او د ترکیې جمهوریت ته واستول. د هېواد دننه یې بېلا بېل مسلکي
روزنیز مرکزونه پرانیستل او د سرتیرو د باسواده کولو چارې یې هم پر مخ بوتلې، د کابل حربي فابریکه
پیاوړې شوه او نظامي مهمات له بهر څخه وارد شول او افغاني ځواکونو ته دافع هوا توپونه او زغره
وال ګاډي ورکړل شول او په کابل کې د یو شمېر سرتېرو د خوراك ستونزه دولت حل کړه د لارو بېرته
رغول او د سړکونو غځول په مالنګ او پکتیا کې پر مخ ولاړل او په کابل پغمان، مقر او جلال آباد کې
یو شمېر هوټلونه جوړ شول. تیلفون، تلګراف او بېسیم دستګاوې جوړې شوې او د ډاك هوایي کرښه د
افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ او د ډاك ځمکنۍ کرښه د کابل او هند تر منځ رامنځته شوه. په کابل
کې د راډیو بنسټ کېښودل شو او ښار په برېښنا روښانه شو او د کابل د نوي ښار (دارالامان) بنسټ هم
کېښودل شو د روغتیایي چارو له مخې په کابل او ولایتونو کې ملکي او نظامي روغتونونه جوړ شول

او په مرکز کې مستورات او د پغمان په بیګتوت کې سناتوریم جوړ شول، دا کسري ماشینونه کابل ته راوړل شول او د ارالمجانین او دارالیتام جوړ شو. په دغو ټولو اصلاحاتو کې ځینو شمېر بهرني متخصصین په تېره بیا ترکان او جرمنیان او فرانسویان بوخت و. ترکانو په روغتیایي چارو، نظامي برخو او قانون جوړونې کې، جرمنیانو په معارف، تخنیکي او نظامي برخو کې او فرانسویانو د معارف او لرغونپېژندنې په برخه کې کارونه وکړل، زیات هغه متخصصین چې افغانستان استخدام کړي وو، هغه جرمنیان وو.

## کورنۍ سیاست

پاچا امان الله خان د خپل سلطنت پیل څخه له افغاني روڼ اندو سره د زړه له میني چلند وکړ، ټول مشروطه غوښتونکي او سیاسي بندیان یې د خپل پلار له جیلونو راخوشې کړل او دوی یې له نورو روڼ اندو سره د هېواد په چارو کې وګومارل. د بېلګې په توګه تاج محمد پغماني د قطغن د ولایت د بهرنیو چارو مدیر مقرر شو. غلام محمد خان میمنه ګي د تحصیل لپاره جرمني ته واستول شو، چې له هغه خایه د پروفیسر په توګه بېرته راستون او دلته یې بیا د انځورګري د ښوونځي د بنسټ ډبره کېښوده. محمد انور خان بسمل (سره له دې، چې ورور یې محمد اختر د پاچا د وژولو نیت هم کړی و) د افغانستان په شمال کې په سیمه ییزو حکومتونو کې مقرر شو. میرزمان الدین بدخشاني د کابل او هرات والي شو. نظام الدین خان ارغندیوال د امنیه په وزارت کې مدیر او بیا وروسته په برلین کې د افغاني سفارت سکرتر شو. پادشاه میرخان لوګري د سیمه ییز حکومت په چارو کې وګومارل شو او کاکا سید احمد خان لودي په ښوونیزو چارو کې مقرر شو. عبدالرحمن خان لودي د افغانستان د سفارت فوق العاده پلاوی وټاکل شو او وروسته بیا د پاچا سرمنشي شو عبدالهادي خان داوي د وزارت سفارت ته ورسېد. آن دا، چې هندوستاني بندیان لکه داکتر عبدالغني خان او مولوي نجف علي خان، مولوي محمد حسین او نور د معارف په چارو کې وګومارل شول.

دغه ډول یوه آزاده سیاسي فضا ددې لامل شوه، چې پټ سیاسي سازمان او کړی (کومې چې د امیر حبیب الله خان پر مهال پټې وې) را ښکاره شي او په آزاد ډول یې خپل سیاسي فعالیتونه پیل کړل سره له دې، چې تر دې مهال پورې د ګوندونو جوړول قانوني شوي نه وو ، خو بیا هم دغو کړیو د نارسمي ګوندونو بڼه غوره کړه، چې ډېرې نامتو یې په کابل کې دغه دوه کړی وې:

یوه سیاسي کړۍ هغه وه، چې ځان ته یې "افغان ځوانان" نوم غوره کړی و او څه نا څه یو توند مرام یې درلود او موخې یې کېڼ لاسو ته ورته وې. ددغې کړۍ مهم غړي دا وو: عبدالرحمن خان لودي، چې وروسته بیا په ۱۹۳۰م. کال کې د هغه وخت د دولت له خوا اعدام شو. تاج محمد خان پغماني، چې په هماغه کال په توپ والوځول شو. فیض محمد خان باروت جوړونکی لکه تاج محمد خان توپ ته وتړل شو غلام محمد خان ارتي، چې وروسته بیا په پېښور کې د یوه ناپېژندل شوي سړي په لاس په ټوپک وویشتل شو (ده له مرګ څخه هغه وخت خبر شوم، چې په کندهار کې په ۱۹۳۸م. کال کې تبعید دم)

سردارانګه یو شمېر نور چې وروسته تر ۱۹۲۹م. کال د وخت د دولت په لاس سیاسي بند ته وغورځول شول او ډېر کلونه (۱۳ کاله) بندیان پاتې شول تر څو، چې بوډا او له منځه ولاړل لکه سعدالدین خان، مرزا عبدالرحمن خان او محمد انورخان بسمل او مرزا انورمحمدخان او نور. یو شمېر نور، د نظامي اداري تر زور لاندې له سیاست څخه لرې شول لکه عبداللطیف خان، مرزا محمد اسمعیل خان، محمد سعید خان مرزا غلام جیلاني خان او نور.

زه ددغه کتاب لیکوال هم د همدې افغان ځوانانو د سیاسي کړۍ غړی وم. د دوهمې سیاسي کړۍ نامتو غړي، چې د میرسید قاسم خان له خوا یې لارښوونه کېده دا وو:

عبدالهادي خان داوي چې په ۱۹۳۳م. کې بندي شو او ۱۳ کاله په جیل کې پاتې شو. فقیر احمدخان، چې په ۱۹۳۳ کې وروسته تر سیاسي بند څخه اعدام شو. سید غلام حیدرخان کونړی پاچا چې په سیاسي بند کې ومړ، غلام رضاخان چې ۱۳ کاله په جیل کې پاتې شو، غلام احمدخان رحماني، چې لکه د غلام رضاخان په شاه یوه اوږده موده په جیل کې و. فیض محمدخان ناصري، چې وروسته تر لنډې مودې جیل څخه راخوشې شو، میرسید قاسم خان ددغې کړۍ مشر هم یوځل په اعدام محکوم او تر پانسي پورې هم بوتلل شو. خو د اعدام امر یې په ابدي بند بدل کړل شو او ډېر کلونه نور په بند کې پاتې شو. سردار عبدالحسین خان عزیز، چې له سزا څخه وژغول شو او سفارت او بیا وزارت پورې ورسېد او همداسې یو شمېر نور سره له دې ټولو دغو کړیو د ځوانانو د اذهانو په روښانه کولو کې ډېره ونډه وکړه او د یوه پیاوړي ګوند د جوړولو لاره یې هواره کړه او په مهمو سیاسي پېښو کې یې لاسونه لرل. د کابل ملي کتابتون هم د همدوی په همت جوړ شو. د ستاره افغان د انتقادي جریدې، په خپرولو کې، زه لیکوال د ځوانو افغانانو د کړۍ په استازیتوب د پغمان د ۱۹۲۸ کال په لویه جرګه کې غړی وم او عبدالرحمن خان په لومړنۍ جرګه ۱۹۲۴ کې په انتصابي توګه غړی و. زه د کابل ښار د انتخابي وکیل په توګه وم، چې د پورته یادې شوې کړۍ استازیتوب مې کاوه. همدا رنګه مونږ دواړو (ما ددې کتاب لیکوال او عبدالرحمن خان) د ارګ د شمالي برج او د ستوري چمن (۱۹۲۱-۱۹۲۸ کلونو کې) په هغو مشورتي رسمي جرګو کې ددغې کړۍ په استازیتوب برخه لرله، چې د افغان او انګلیس د سیاست په هکله او د پاچا د نویو اصلاحي پروګرامونو په هکله جوړې شوې وې، خو د افغاني روڼ اندو د سیاسي فعالیتونو سره سره چې له هغو څخه کېڼ لاسي نښې برېښېدې. د امانیه دولت پر مهال د دوی یو هم په اعدام یا سیاسي بند باندې محکوم نه شول.

په هر حال، ریفورم په همدې ځای ونه درېد تر هغو پر مخ ولاړ تر څو، چې په خوست کې یو ارتجاعي اغتشاش او ار-دوړ جوړ شو دا د ۱۹۲۴ مارچ میاشت وه. په دې کې د پخوانیو یو شمېر بهرنیو عمالو څخه برعلاوه یو بل نوی او څرګند انګلیسي هندوستاني هم را استول شوي و، چې د کورني ار-دوړ په سر کې ودرېد (عبدالکریم د امیر محمد یعقوب خان زوی یا بچه خوانده). د خوست بزګران او خلک چې د سیمې د مامورینو او اداري له لاسه ناراضه وو د او ناوړه اداري او فساد ژر څنګ خلکو ته دا تبلیغ هم کېده، چې قانون د دین نسخ کوونکی دی، نو دغو تبلیغاتو خلکو ته دوکه ورکړه او د خان او ملا تر

Scanned by CamScanner

بیرغ لاندې ودرېدل. دوی د لوګر په لوري را روان شول، دغې پېښې د ریفورم د بره برخه په ټپه ودروله. داځکه چې د ۱۳۰۳ش. کال د پغمان په لویه جرګه کې ارتجاعي ځواك د پکتیا د ار-دوړ په وراندې د دولت له بحراني وضعیت څخه استفاده وکړه او د ریفورم یوه برخه یې د تعدیل تر نامه لاندې تر بحث لاندې ونیوله. دولت چې په واقعیت کې د ار-دوړ تر ګوابښ لاندې راغلی و خپل یواځې لږ شمېر طرحې تصویب کړې او نورې پاتې شوې دولت ددغو استازیو تعدیلي وړاندیزونه پرته له مقاومت څخه ومنل او په دې توګه ددغو استازیو یو ۱۹ توکیز پرېکړه لیك له جرګې څخه تیر او په لاندې توګه اعلان شو: د جرم له وقوع څخه مخکې د قانوني مجازاتو ټاکل ممنوع دي د صغیرې نکاح جایزه ده. ښځه باید په کور کې سبق ووایي (یعني نه په ښوونځي کې) مخکې له تحصیل څخه بهرنۍ ژبه د عقایدو شرحدار دینیات ولوستل شي. محتسب به خپل احتساب کوي، د ملا او جوماتو چارې دې تنظیم شي، فردي (وګړیزه) آزادي یواځې په شخصي چارو کې ده نه په سیاسي، مذهبي او دیني کې. د شرعي دعواګانو په ترڅ کې د تابعیت د تذکرې لرل شرط نه دي. له څلورو ښځو سره د سړي نکاح سمه ده، تر بیرغ لاندې د خدمت په بدل کې نغدې پیسې ورکول سمه ده، د قرآن د حفظ مدرسې دې د نوم له بدلون څخه پرته پاتې وي، عربي دارالعلوم دې جوړ شي.

دولت د اضطرار په حالت کې و او په دغه فیصله کې یې څه ونه ویل، خو وروسته بیا ریفورم باندې بیا کار پیل شو. پاچا امان الله خان د ۱۹۲۷م. کال په ترڅ کې د ایټالیا د دولت په بلنه بهر ته سفر وکړ. ددغه سفر په ترڅ کې هندوستان، مصر، ایټالیا، فرانسې، بلجیم، سویس، جرمني، برېتانیا، پولند، شوروي اتحاد، ترکیې ایران ته ولاړ او ددغه هېوادونه یې وکتل او د ۱۹۲۸ کال په جولاي کې بېرته افغانستان ته راستون شو هغه ته په ختیزو هېوادونو کې د لویدیځ استعمار په ضد د ختیځ د خپلواکې غوښتنې د مبارز او په لویدیزو هېوادو کې دانګلیس د امپراتورۍ د ماتې ورکوونکي اتل په توګه هر کلی وویل شو. په تېره بیا د جرمني مطبوعاتو په دې هکله ډېرې تفصیلي مقالې ولیکلې.

پاچا ددغه سفر په ترڅ کې یوه اندازه وسلې او جنګي مهمات وپېرودل او یو شمېر فابریکې یې هم راوړلو ته چمتو کړې. په دې اړتیاوو کې ۵۴ زره ټوپك، ۱۰۲ توپونه، ۸ الوتکې، شپږ ټانکونه پینځه زغره وال او یو څه پټکونه، مترالیوز اوجبه خانه راتلل. پاچا په سویس کې د افغانستان لپاره د نړېوال ډاك په اتحادیه کې غړیتوب ترلاسه کړ او په همدې کال کې یې د جګړې د بندیز د تړون د لاسلیك کولو په خاطر د متحده ایالاتو د دولت بلنه ومنله. کله چې پاچا له اروپا څخه بېرته راستون شو، خپل اصلاحات یې بېرته بیا له سره پیل کړل او هغو ته یې نوره هم پراختیا ورکړه. د ۱۹۲۸م. کال په اوړي کې د ښځو د ملاتړ ټولنه جوړه شوه او د کابل دولس تنه ښځینه وکیلانې ددغې ټولنې په اداره کولو بوختې شوې د تدبیر منزل یو ښوونځی د باغ علي مردان په کوڅه کې د ترکي او جرمني ښځینه ښوونکو په لرلو سره پرانیستل شو. د پغمان په لویه جرګه (۱۹۲۸ - ۱۳۰۷ش) کې لاندیني اصلاحات تر لاس لاندې ونیول شول:

رسمي لباس، القاب. مډال او نښان لغو او د دارالعجزه، دارالمجانین اودارالمساکین په جوړولو ټاکید

د مامورینو لپاره سفر خرڅ او د هغوی د معاش زیاتول منظور شول. د دولت مامور اړ شو، چې د وشي. نیلو شخصي مصارفو ورکړه به خپله کوي او د دولت په کار کې د شمولیت پر مهال به خپله شتمني ښتوي. د استخدام قانون تصویب شو. په عدلیې چارو کې د حاکمانو او قاضیانو خپل اختیار محدود شو. د پاچا تر سیده څارنې لاندې د عمومي تفتیش یوه اداره تأسیس شوه. د نغدي مجازاتو تاکل لکه د جرم له پېښېدو څخه مخکې جزا په شان په قانون کې درج شوه عصري محاکم جوړ او مدني محکمه جوړه شوه، چې د مجرم د غیابي محکومیت واک یې درلو. تر بیرغ لاندې خدمت اجباري شو پرته له دې. چې د درې کلونو عوض ورکړي. د مطبوعاتو آزادي او د رشوت اخیستو انتقاد تصویب شو. د صغیرې نکاح لغو او دواده عمر ۱۸ و ۲۲ کاله وټاکل شو. د حجاب رفع کول په خپل اختیار شول او ملایي د شهادتنامې د لرلو په شرط پورې ومنل شوه. همداسې هم د ځمکو مالیات زیات شول او هر وګړی په دې مکلف شو، چې د پنځوس زره ټوپکونو او جنګي مهماتو د پېرودلو لپاره به پینځه روپۍ اعانه دولت ته ورکړي. د ملي بیرغ نښان غر، لمر او د غنمو وږی ومنل شو او د دولت د شورا پر ځای د انتخابي ملي شورا پریکړه وشوه، چې د ملت ۱۵۰ باسواده وکیلان به پکې غړي وي.

دا یوازې نه. بلکې پاچا د پغمان د لویې جرګې له پای ته رسېدو سره سم دستور په چمن کې یوه بله غونډه جوړه کړه، چې په هغې کې د دولت لویو ملکي او نظامي مامورینو او یو شمېر نورو خلکو ګډون کړی و، او په خپله یې د هغې په ترخ کې د دولت راتلونکي پروګرامونه تشریح کړل. ده وویل: پاچا به تر لسو نورو کلونو پورې د مسئول صدراعظم پر ځای د حکومت چارې په لاس کې ولري. په همدې غونډه کې یو شمېر نجونو خدای پاماني وکړه او مخامخ قسطنطنیې ته د تحصیل لپاره ولاړې. البته دغو افغاني لومړنیو نجونو بورقه نه لرله. پاچا د نظامي ځواکونو مریدي او مرشدي هم لغو کړه او د دولت مامورینو ته یې دځو څو ښځو د نکاح کول منع کړل. د نجونو او هلکانو لپاره لومړنۍ زده کړې یې یو ځای په ښوونځي کې مقررې کړې او په ټولو ولایتونو کې یې د نجونو لپاره د ښوونځیو جوړول د دولت دیرې موخې په توګه وښودل. همدا رنګه د نفسیه صنعت، کرنې او حقوقو ښوونځیو جوړول او د دوو لویو کتابتونونو جوړول یې نږدې وبلل او ویې ویل، چې د یوه دولتي بانک جوړول، د غالۍ او بدلو د فابریکې جوړول، د هوایي چلند د یوه شرکت جوړول. د ټولنیز کلوب جوړول، چې بهرنۍ اتباع هم پکې ګډون ولري.

د ښځینه وو لپاره د روغتونونو جوړول او د پولیسو یو نوی تشکیل جوړول یې د دولت د پروګرام یوه برخه وبلله. په پای کې یې وویل، چې د افغانستان د بهرنیو چارو او نظامي مامورین نشي کولای له بهرنیو ښځو سره واده وکړي او دا یې هم وویل، چې افغانستان به د سره صلیب په نړیواله ټولنه کې غړیتوب ترلاسه کړي.

# کورنی وضعیت او د اداري طرز

څه نا څه د هېواد ټولو طبقاتو له دغه دولت څخه ملاتړ وکړ او له دامانیه دولت له جوړېدو وروسته، انګرېزانو سره په جګړه کې ټولو خلکو بزګرانو او نورو سره اکثرو روحانیونو او فیوډالو هم برخه واخیسته او دوی هم له خلکو سره یو ځای دغه دولت سره ودرېدل، خو له انګرېز سره تر جګړې وروسته کله چې اصلاحات او ټولنیز سمون پیل شو، ورو ورو د خلکو صفونه د طبقاتي ګټو پر بنسټ یو بل څخه جلا شول. افسرانو، خانانو ملکانو، فیوډالانو اربابو خپل مستمرې، رتبې او نور امتیازات له لاسه ورکړل، نو ځکه له نوي دولت څخه خپه شول او یو ځل بیا د منځنیو پېړیو د نظام د را ژوندي کولو په لټه کې شول. همدا رنګه روحانیونو ته د نویو اصلاحاتو یوه برخه دین سره په نقض کې ښکاره شوه او دوی خپل یو شمېر پخواني امتیازات هم له لاسه ورکړل، دوی هم خپه شول او ددغه نوي دولت مخالف شول، خو دولت یواځې نه و، دولت دخلکو په پراخه ولسونو تکیه لرله، نو ځکه یې سمون او ریفورم ته د ولس په ملاتړ دوام ورکړ او دغه سمون یې په لومړي پړاو کې ډېر په ډاډ سره پر مخ بوت. دغه لومړی پړاو پېنځه کاله وخت ونیو او په دې ترخ کې پاچا په خپله، چې د ټولودولتي ځواکونو په سر کې و، په صمیمیت سره کار کاوه، هغه د وطني رخت دټړل شوې غاړې جامې اغوستې تجمل او عیاشي یې نه کوله او تر نیمې شپې پورې به یې کار کاوه.

خلکو ورته غازي وایه او پرته له بد ګڼلو او پرته د یو شمېر تیروتنو سره سره بیا هم د ولس د باور وړ و، په دې توګه نه کورنیو مخالفینو او نه هم بهرنیو دسیسو وکولای شول، له ځنډ څخه یې اوامر ټول منل. مخالفینو په بېلا بېلو بڼو لا هم نفوذ او اغېزه لرله او په چې دولت د پرځېدو یا ړنګېدو په لوري بوځي. ولس کې یې یا مادي یا معنوي واك و د بېلګې په توګه:
هغه مهال په افغانستان کې د یوه فیوډال ژوند داسې و، چې: د کندهار په یوه ښیرازه سیمه کې د علیزیو د میړني او ننګیالی قبیلې یو ځمکوال چې په دغې قبیلې کې یو خان و، دغه ځمکوال او خان د سیاسي او قضایي امتیاز لرونکی و او ده کولای شول په رشوت، سوغات، سازش او نورو چلونو سیمه ییز حاکم، والي او د کندهار نور چارواکي را خپل کړي، کله به یې چې سیمه ییز چارواکي را خپل کړ نو دا وخت یې کولای شول، چې د سیمې پېښې په خپل زړه کې حل کړي، هغه سیمه یې استثمار کوله. ددغې سیمې د هغه وخت نامتو خانان دا وو: دوه تنه لومړي درجه لوی خانان غلام حیدر خان حسن زابلي او سلطان محمد خان خلوزایي. دوهم درجه بل خان معصوم خان پاتك زایي ور له دې څخه ټیټ نور خانان وو. په دې کې غلام حیدرخان څو کلاوې لرلې او خپل شخصي حرمسرای یې په یوه لوی باغ کې و. د حرمسرای ودانۍ یې د ګچو په ګلانو انځور شوې وه او د هغه د لوی دالان په منځ کې د اوبو ویاله تېرېده او د حرمسرای د اوبو په ډند کې د کندهار رنګه او له سپینو غوړوالۍ لرونکي کبان ګرځېدل، حال دا چې بزګرو او شپنو پرته له یو څو او جونګړې څخه بل څه نه لرل.

محمد صدیق خان علیزایي یوبل خان و، چې دخپل ورور تر مړینې وروسته یې په رڼا ورځ خپل ځوان وراره شیرمحمد د خپلو زامنو په لاس د ټوپك په ډز سره د ښکار په ترخ کې وویشت او په خپله دویالې

له غاړې کښېناست او خپل کوچني او صغیر وریرونه یې راوغوښتل بیا به یې په خپلو پیاوړو لاسونو له څټ څخه رانیول او سرونه یې ورته په اوبو دننه کول او تر هغه به یې اوبو کې ډوبول چې دوی هر یو مړه شو او پسې به یې بل راونیو تر څو چې ټول یې مړه کړل، خلکو ورته کتل. خلکو کیسه کوله چې دغه ماشومان رېږدېدل او له خپل تره څخه وېرېدل او پوښتنه به یې کوله:

کاکا زما وار کله دی؟ خان په دې توګه ټول ووژل، دا ځکه چې نه یې غوښتل چې دده د ورور کوم میراث خور پاتې شي، دې پسې د خپل ورور حرم ته ننوت او د هغه ښځې او ټوله شتمني یې تر لاسه کړه.

خو غلام حیدر خان حسنزایي له سیمه ییز حاکم سره، چې یو جا طلب اشراف واو د امین جان په نوم یادېد، لاس یو کړ او هغه ته یې خپله لور هم ورکړه. دا ځکه چې امین جان د تخت او تاج په لټه کې و. امین جان خوب لیدلی و، چې پاچا کېږي او یوه اجیر منجم هم دغه خوب تائید کړ او ورته ویې ویل چې د پاچاهی تخت ته په تمه اوسه. دوی ټول د ځواك په راټولولو بوخت شول چې دا مهال دولت خبر شو او د کندهار والي عبدالعزیز خان له عسکرو سره یوځای ورغی. غلام حیدر خان حسن زایي او سلطان محمدخان خلوزایي له نورو پېنځو تنو خانانو سره مقابله پیل کړه، خو ظاهراً د دوی یو بل سیال خان (معصوم خان) د دولت پلو ته ودرېد او داسې لاره یې سره جوړه کړه، چې خانانو د خبرو-اترو له پیل سره سم د دولت په عسکرو ډزې پیل کړې او جګړه پیل شوه. دځو تنو له وژل کېدو وروسته خبرې پیل شوې.

وروسته تر سولې څخه عبدالعزیز خان دغه اووه خانان په یوه ډول سره راوغوښتل او بیا یې بندیان کړل او وروسته یې د پاچا په امر اعدام کړل او فتنه پای ته ورسېده.

همدا رنګه د هېواد روحانیونو په ټول هېواد کې ژوره اغېزه لرله، په تېره بیا په کلیوالي سیمو کې ملایان د خلکو په اذهانو کې اغېزمن قوت بلل کېده، خو له دې لامله چې دوی پوهېدل، چې خلك ددولت ملاتړي دي، نو ځکه یې د دولت په ضد څه نه ویل، په دې توګه د دولت اصلاحات ښه پر مخ روان وو، بهرني مخالفانه سیاست هم د هغه پټ اغېز له لامله چې درلود یې بیا هم د خلکو په لمسون کې کوم ځای ته ونه رسېد، خو په افغاني ټولنه کې یې رېښې ورځ په ورځ غځېدې او ورو ورو د هر والي او هر وزارت په خوا کې یو یا څو تنه شکمن هندیان په بېلابېلو نومونو سره را پیدا کېدل او په خپله د افغانستان دولت هم په سیاست کې ځیني تیروتنې کولې. د بېلګې په توګه د بخارا په موضوع باندې نږدې و، چې د افغانستان او شوروي تر منځ اړیکې خړې پړې شي، خو شوروي دا خړ پړتیا پرېښوده، همدا رنګه د درقد په مسئله کې.

د هندي مهاجرینو پېښه یوه بله موضوع وه، چې کولای یې شول د هند د خلکو هیلې او مینه نظر د افغانستان دولت ته تکنی او تپي کړي. هغه داسې و چې د ۱۹۲۰م. کال په اپریل کې د هند د حریت جریدې د مولوي عبدالباري خان فتوا خپره کړه چې:

هغه مسلمانان چې په ډاده زړه په هند کې نشي اوسېدلای، له دغه هېواد څخه دې هجرت وکړي او داسې ځای ته دې ولاړ شي، چې هلته د اسلام قوانین او اسلام ته د خدمت کولو خوا ته ډېر پام وي. البته دغه مناسب ځای افغانستان و په تېره بیا کله چې پاچا امان الله خان د یوې وینا په ترځ کې د هندوستان د

Scanned by CamScanner

مسلمانانو پر مخ د افغانستان دروازه پرانیستې پرېښوده او د مهاجرینو لپاره یې یوه نظامنامه جوړه او
په اتو توکو کې یې یوه نظامنامه جوړه کړه او هغه خپره شوه. چې د هغې له مخې په افغانستان کې هر
مجرد مهاجر ته شپږ جریبه ځمکه او هر متأهل ته اته جریبه ځمکه او هر جریب کرنیزې ځمکې ته شپږ من
کرنیز تخم او پینځه روپۍ ورکول د فصل تر رسېدو پورې ومنلې او هر بالغ وګړي ته یې د میاشتې
پینځه منه د خوراك اوړه او هر نابالغ ته یې درې منه اوړه ورکول وټاکل او ځمکه یې تر درې کلونو پورې
د مالیې له ورکولو معاف کړه او ویې ټاکله چې مسلکي خلك به د دولت په چارو کې ګومارل کېږي. خو
د هندي مهاجرینو ټولنې له دې سره هم قناعت نه کاوه او غوښتنه یې وکړه چې له دوی څخه دې یو غونډ
سرتیري غوره شي او ځوانان دې د کابل په حربیه ښوونځي کې ونیول شي او پاتې نور دې د دولت په
لګښت د قطغن ولایت ته ولېږدول شي. د انګلیس دولت هم په خوشحالۍ سره د دغه مهاجرت لاره
پرانیستې پرېښوده او خلکو هجرت کولو ته ملا وتړله. له لومړنیو کاروانونو کې ۲۵ زره مهاجر ښځې
او نر او ماشومان او بوډاګان افغانستان ته راغلل. که څه هم دغه مهاجر نه وای پښېمانه شوي او بېرته
نه وای ستانه شوي. نو افغانستان د مهاجرو تر بار لاندې ستومانه کېد. دا ځکه چې امکان یې درلود.
چې د هندو د درې سوه میلیونو مسلمانانو څخه یو زیات شمېر یې راغلی وای. نو دا وخت به ټولې
کرنیزې ځمکې د دوی شوې وای. خو دا سې ونه شول ځکه چې ټولو مهاجرو د افغانستان د کار او اقلیم
وس نه درلود. بېرته وګرځېدل او دا مهال د "پایونیر" تبلیغات پیل شول تر څو د افغانستان او هند تر
منځ اړیکې خرابې او د هند د خلکو نظر د افغانستان په هکله بد کړي.

خو دغه پېښې په د افغانستان کې د ریفورم لپاره خنډ نه شوې، که څه هم په خپله د دولت جبهه له دننه
وای نړېدلې. ریفورم بریالی روان و. دا ځکه چې لا هم ملت له پاچا سره ولاړ و او دا د خلکو ملاتړ و. چې
په دولت کې دا خلال او د حکومتي ماشین له ورانې سره سره بیا هم د دولت پښې کلکې وې، که نه له څه
مودې راهیسې کابینه او دولت کې درز پیدا شوی و. په دې معنا چې کابینه په دوو یو بل څخه جلا او یو
د بل مخالف مرام او عقیده لرونکو باندې وویشل شوه، چې یوه برخه یې د هېواد دننه د اصلاحي
پروګرام پلوي وه او د افغانستان په بهرني سیاست کې د مثبت بیطرفه او خپلواکې تګلارې غوښتونکې
وه. خو هغه بل پلو په کورني سیاست کې د تدریجي اصلاحاتو پلوي او په بهرني سیاست کې له یوا
خواکمن ګاونډي سره د یوه اړخیز سازش او نرمښت غوښتونکې وه. نو ځکه دغو دوو ډلو غوښتل، چې
یو د بل نظرونه له منځه یوسي او په دې کې پاچا ته ویل کېدل. چې د دوو مخالفو ډلو شتون د چارو د
سمون او د پاچا د دریخ د ښه کېدو لامل کېږي. له دې پرته په کابینه او دربار کې یو شمېر بادار پرسته
او بې خبره وګړي هم وو. چې یواځې او یواځې د پاچا د شخصي باور او شخصي پېژندنې له مخې
راغلي وو. چې د مشورې ورکولو فکري او عملي ځواك یې نه درلود او په دغه تاریخي پړاو کې یې د
ریفورم او اصلاح له تطبین سره د فکر او اجراتو توان نه درلود او نړۍ لیدلې له عادي کچې څه پورته نه و.
د دغه فکري تناقضاتو په پیل کې د دولت په عالي دستګاه کې د لومړي ځل لپاره انګلشمین یو واقعیت په
رښتینې ښه بیان کړ او ویې ویل چې:

Scanned by CamScanner

د افغانستان په وزیرانو کې دوه ډلې دي، د بېلګې په توګه د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي د انګلیسانو په ضد مبارزې کوي، حال دا چې لومړی وزیر په خپله د طرزي په ضد لګیا دی. سره له دې چې "امان افغان" دولتي جریدې په متعصبانه توګه د خپل نشراتي لومړي کال په ۲۰۱ مه ګڼه دغه نظر رد کړ، خو نه یې شو کولای، چې یو واقعیت څخه سترګې پټې کړي.

د دربار او حکومت په منځ کې د تناقض یوه ښه بېلګه او ښه شاهد هغه لیک دی چې صدراعظم سردار عبدالقدوس خان د ۱۲۹۹ (۱۹۲۰) په جنګابش میاشت کې له کندهار څخه کابل ته شمس المشایخ مجددي او د هغه ورور نور المشایخ ته په رسمي کاغذ کې لیکلي او را استولي وو او په دغه تفصیلي لیک کې یې په څرګند ډول د بهرنیو چارو له وزیر محمود طرزي سره خپل اختلاف ښودلی و او د نویو وزیرانو له اداري څخه یې شکایت کړی و او ویلي یې وو، چې تر دوو میاشتو پورې به د دولت له کار څخه بېخي لاس په سر شي او د پاچا د مخالفو وزیرانو لوری به ونیسي. ددې لپاره، چې د صدراعظم د یو شمېر نظریاتو په هکله پوه شو، نو یو څو ټکي یې دلته راوړو:

"... د صدارت عظمی مقام. جنابان فضایل نشانان شرافت بنیانان شمس المشایخ صاحب او نور المشایخ صاحب دي حضرت الهي له ځمکنیو او آسماني آفتونو څخه روغ وساتي... هغوی جناب زما له پخوانۍ عریضې څخه په ښه توګه خبر دي، چې ما د اعلیحضرت له حضور څخه غوښتنه کړې وه، چې څلور ساعتونه راته د شرفیابي موقع راکړي تر څو هغه څه چې غواړم او زما د منصب له مخې فرض دي ستاسو حضور ته ووایم او خپله غاړه خلاصه کړم. وروسته له هغه د دوی مبارک وجود په خدای سپارم او ځان لکه د شطرنج پیاده او بې ځانه په شان د اولوالامر په اطاعت کې وبولم او د خدمت په لاره کې مرګ هم ومنم خو څه به ونه وایم. دوه ځله مې د اعلیحضرت حضور کې شرفیابي وشوه تاسې نه واست او د بهرنیو چارو ناظر (محمود طرزي) هلته ناست و او ما خپلې خبرې ونشوې کولای. دا ځکه چې په یوه موضوع کې د بهرنیو چارو دما ناظر نظر زما له نظر سره په مخالفت کې و که هغه ما سره بحث شروع کړی وای او د اعلیحضرت نظر هم د هغه پلو ته شوی وای، نو پرته له خجالت څخه مې څه نه و ترلاسه کړي دا دی د خپل نظر لنډیز د جنابانو په واسطه بیانوم. نصارا د مسلمانانو په وړاندې دوه ډوله بریدونه کوي یو یې د توري په واسطه او بل د قلم او دوکې په واسطه.

په لومړي ډول تیري او برید کې ملت په پام کې نیسي، خو په دوهم ډول برید کې موخه پاچا دی، چې د ملت لاس د دولت غاړې ته ور اچوي، چې پایله یې د مشروطیت اصول دي، چې ۱۳ کاله مخکې پایونیر د هغه بیان کړی و او ویې ویل چې: مشروطیت په ترکیه او ایران کې ځکه ټینګ شو، چې خلکو د آزادي خوند ولید، خو په افغانستان کې د ترکیې او ایران سرچپه شو، یعنې پایله ورڅخه ترلاسه نه شوه، ددغه دولت د نړولو لپاره یو نامدار سردار یا یوه ملا او یا هم یوه بااعتبار خان ته اړتیا ده. زه پوهېږم، چې د انګلیس دولت لپاره نور دا قوت نه ده پاتې، چې په ملت او د افغانستان په دولت باندې د توري ګوزار وکړي، خو هغه څه چې پاتې دي هغه دوکه ده، چې دغه دوکه مشروطیت دی. ددې علاج دا دی، چې له شرعي پلوه باید مشروطه غوښتونکي واجب القتل وبلل شي او بیا وروسته تر هغه جدیده علومو

ته متې راپورته شي. ومې غوښتل، چې په کندهار کې هم د نویو علومو زده کړې پیل کړم. خو د شرع په حکم باید د مشروطه میکروب له منځه یووړل شي. له همدې لامله د دغه ځای علماوو ځخه مې پوښتنه وکړه او دغه موږ ځواب راکړ، چې تاسې ته مې در واستاو. که لازمه وي حضور ته به یې تقدیم کړم او د دغې دوکې دروازه به وتړل شي.

درنو جنابانو محبانو تاسې سره زما د لیدو لپاره موخه دا ده، چې د خپل دولت د دوستۍ، دښمنۍ، سیاست، عسکریت، تجارت او پلتیك په هکله خبرې وکړم. ځکه تر اوسه پورې مې چې د دښمن تورې خپل سرپورې ځوړنده شوې لیدله. نو څنګه مې کولای شول دفاع مې نه وای کړی او د هلکانو ښوونې او روزنې ته مې ملا تړلې وای او لس کاله وروسته به یې پایله په لاس راتله؟ ما په خپل تصنیف کې سلطنت بدن، پاچا روح او مدیر حکیم بللی او په حکیم باندې واجبه ده، چې اول د مرګ خطر رفع کړي او بیا د بدن په پیاوړي کولو پیل وکړي اوس چې د تورې ګواښ زمونږ دولت له سره بېچ شوی دی، دا وخت رارسېدلی دی، چې په قلم باندې ډېره ولګول شي. زما نظر دا نه دی، چې یواځې د خپلې خپلواکۍ په فکر کې اوسو، دا ځکه دا آزادي خدای مونږ ته راکړې ده او مسلمانان، نصارا او هندوان زمونږ دوستۍ ته لېوال شوي او زمونږ له دښمن سره دښمني کوي، نو هغوی باید خپله خپلواکي زمونږ په واسطه له نورو څخه وغواړي. دغه د استقلال جګړه په هند کې خپلواکي راولي او مونږ سره د هندوستان کلي ده. په کار ده، چې مونږ هومره ځواك ولرو، چې دغه کلي له مونږ څخه وانه خیستل شي او زمونږ په سر ګوزار ونه کړي، د همدې ځواك د ترلاسه کولو په خاطر ده چې د اعلیحضرت حضور ته اته ساعته شرفیابي او د خپلو عرایضو وړاندې کولو هیله مې وکړه، خو شرط به دا وي، چې پرته له تاسو څخه به نور څوك په مبارك حضور کې نه وي. له خپلواکۍ غوښتنې څخه زمونږ موخه باید د هندوانو خپلواکي هم وي او همداسې باید د نړۍ د ټولو هېوادونو خپلواکي هم وي، خو له نصاراوو سره زمونږ دوستانه اړیکې به یواځې د سوداګرۍ له لارې وي، دا ځکه چې سوداګري د ټولې اروپا د هېوادونو روح دی او دغه سوداګري یې زیاتره په آسیا کې چلېږي او په آسیا کې هم تر ډېره حده د دوی موخه هند او چین دی او د وچې له لارې د دغو هېوادونو کلي زمونږ په لاس کې ده نه د بسمارك او ګلاوستون په لاس کې...."(۱)

صدراعظم سردار عبدالقدوس خان لکه هغسې، چې په پورتني لیك کې ویلي، د مشروطیت او د افغانستان د مشروطه غوښتونکو په هکله یوه اوږده استفتا د کندهار له علمای دین څخه کړې ده او د دغه دیني علماوو له ځواب سره یو ځای یې شمس المشایخ ته را استولې ده، چې لنډیز یې دا دی:

"یا علمای کرام و یامشایخ عظام و یا سادات ذوالاحترام... ما څو ځله د خپل هغه ماموریت په هکله چې د اصلاحاتو او د چارو د نظم په هکله مې د زړور غازي پاچا له خوا تر لاسه کړي دي تاسې سره خبرې کړې ده او دا هم ما ویلي دي، چې له نویو اصولو څخه به هغه څه خوښ کړو، چې د ملي لارې پیاوړي

۱- ددغه لیك اصل د شمس المشایخ صاحب د اسنادو په دوسیه کې ده، چې د هغو یوه کاپي محمد معصوم مجددي ماته راکړه.

Scanned by CamScanner

کوونکي وي او هغه څه چې اسلام ماتوي هغه. به رد کړو. هغه څه، چې د خپل کار په اساس کې نشم منلای هغه مشروطیت دی... نو ځکه غواړم چې ستاسې په موافقه دغه اصول له منځه یوسو. نور پاتې به د إصلاحاتو په نسخه کې داخل کړو او هم به د دولت د چارو د انتظام او اصلاح لپاره یو کتاب برابر کړو... اوس په لنډیز سره له تاسې څخه د سلطنت د اساس په هکله پوښتنه کوم او هغه څه، چې زما د دریځ لپاره لازم دي د همغې قاعدې له مخې به پر مخ ځم انشاءالله تعالی"

د صدراعظم مخکینۍ ذکر شوې پوښتنه یوه پاڼه وه او د کندهار د مذهبي علماوو ځواب په دولسو پاڼو کې لیکل شوی و، چې د ښاغلي محمد معصوم مجددي په اسنادو کې شته. د علماوو د ځواب لنډیز دادی:

"بسم الله... بعد الحمد والصلوة والسلام د ملت او دولت د لوړ وزارت صدارعظمی، مقام جلالت ظهور حضور ته... عرض کوو، چې مونږ د حضور استفسار، الهي او سیاسي حکمت له تفصیل د عقلي او شرعي مضامینو له بحثونو څخه استخراج کړ، چې د شرعیه محکمې او شرعیه قواعدو سره برابر او د عقلیه ممهد مطابق دی او د وقار او نقاد فکر په طبع دی. په لنډیز سره مو دا مفهوم ور څخه ترلاسه کړ، چې له دغه استفسار څخه د صدارت اصلي موخه شرعي حکم او د مملکت او سلطنت عقلي مراتب او ترجیح ده. د نړۍ پر مخ د حق او باطل تمیز او د سیاست په قوانینو کې، چې د حکمت او عقل له مخې معمولي دی. د سلطنت ډولونه چې په پورتینو لیکنو کې ټول ښودل شوي دي لاندې څلور ډوله دي: ۱- استبداد ۲- مشروطه ۳- جمهوري ۴- بالشویکي. نو د سوال خلاصه دا ده، چې له پورته څلور څخه کوم یو یې مشروع دی او معقول او ګټور دی او کوم یې غیر معقول، مضر او غیر مشروع... خلافت د دین د استوارۍ لپاره دی... د خلیفه انتخاب او د امام نصبول واجب دي. د خلافت شرایط دا دي: خلیفه باید مسلمان، عاقل، بالغ، نارینه، آزاد، بینا، اوریدونکی، زړور خبرې کوونکی د نظر خاوند، باتجربه، عادل، مجتنب له کبایرو، بامروته، عالم او مجتهد وي. ددغو ټولو صفتونو لرونکی د خلافت وړ دی که له پورته صفتونو غیر جامع وي نو د هغه غوره کوونکي ګنهکار دي. شرعاً او عقلاً همدا یو ډول خلافت او امامت دی. د اسماني قانون اتباع او الهي سیاست د قواعدو اجرا کول د بشر په وګړو کې بلکې په موجوده اضافو کې له خیر او شر څخه ده همداسې سلطنت د همدې ډول سلطنت څخه را پیدا کېږي او حکومت کېږي. نور پاتې کوم ډولونه چې دي لکه سیاسي یا طبیعي، مشروطي یا جمهوري، بلشویکي یا منشویکي او نور نور، چې بنسټ یې الهي غیر ناموس او د آسماني حکم بر خلاف وي، هېڅ یو یې هم له دې کبله چې د ظاهري او باطني اصلاح کومه فایده نه لري او د عالم لپاره کوم عدالت پکې نشته، بلکې د صلاح په ځای فساد او د تهذیب په جامه کې وحشت او د تمدن په نوم نفرت افاده کوي... مردود العقل والشرع دي..."

د کندهار علماوو په دغه ځواب سره اګر چې مشروطه رژیم وغانده، خو د مشروطه غوښتونکو د قلع او قمع په هکله یې کومه فتوا (لکه هغسې چې صدراعظم غوښتله) ورنه کړه، دوی یو بل ځل هم په ۱۹۲۰ م کال (د ۱۲۹۹ ش. کال دوري په میاشت) کې د افغانستان د شیعه مذهبو په هکله یوه فتوا د صدراعظم د

استفتا په هکله ورکړې وه او په هغې کې یې ویلي وو، چې:

" قزلباش خلك د قبلې لوري ته لمونځ کوي. د قرآن تلاوت کوي، د شهادت کلمه یې په ژبه جاري ده، نوځکه د بیضا ملت حکم دادی، چې دوی ټول مسلمان، اهل ایمان او جایز الشهادت والنکاح دي او د دوی حقونو، ژوند، ناموس ساتنې او د دوی د مال ساتنې په برخه کې زمونږ سره یو شان او یو برابر دي او د دوی تر منځ کوم توپیر نشته او هغه څه چې د تیر کال د سني او شیعه تر منځ د کندهار په ښار کې د شعبان په ۲۸مه پېښ شول (موخه یې هغه نزاع وه، چې د استقلال په جګړه کې د بهرنیو په دسیسې سره د سني او شیعه ورونو تر منځ شوې وه) د نهب، قتل او غارت ټول عمل ناجایز او د شرع خلاف و او د هغه مرتکبین د سلطاني سیاست د سزا وړ دي...

هغه څه، چې په حنفي کتابونو کې وکتل شول عرض شول"

(د ۲۴ تنو مدرسینو، ۷ تنو قاضیانو او مفتیانو او درې تنو سیدانو لاسلیك).

البته صدراعظم ددغې فتوا دېر ښه هر کلی وکړ.

په هر حال، ددغو جریاناتو له مطالعې څخه ښکاري، چې د افغانستان په کابینه کې د کورني او بهرني سیاست په برخه کې څومره اختلاف موجود و، چې ځوان افغاني دولت یې د ضعف خوا ته بیوه. یواځې دا نه، چې صدراعظم له پاچا او د بهرنیو چارو له وزیر سره اختلاف درلود، بلکې په ولایتونو کې یو شمېر والیان او په مرکز کې هم یو شمېر لوړ رتبه مامورین د دولت له نویو طرحو سره مخالف او یو شمېر نور د حکومت دښمنان وګرځېدل، دغه وضعیت د یوه خطرناك اختلال زمینه برابروله او هغه دا چې د یوې ځانګړې طرحه شوې نقشې له مخې سنجول شوی حرکت کاوه، په بېلابېلو بڼو یې کار شکني او سبوتاژ کاوه، د بېلګې په توګه کله چې د ملت د اردو عصري بڼې په نظم پیل وکړ او یو شمېر بهرني پوه کسان لکه ضیا بیك او د هغه ملګري یې په کار وګومارل، دوی په مهتاب قلعه کې د اردو یو جزو تام په خپل اختیار کې واخیست او په یوه نوي عسکري نظم سره یې سمبال او د عسکر او افسر د تعلیم او تربیې په یوه نوې بڼه یې جوړ کړ. دغه قطعه د هېواد د ټول اردو لپاره یوه بشپړه غوره بېلګه وه او "قطعه نمونه" بلل کېده، په داسې حال کې، چې له بل لوري یوه بل "نمونه شکن" قطعه هم جوړه شوه او په پای کې نمونه قطعه ټوله له منځه ولاړه او اردو په پخواني بد حالت کې پاتې شوه. د مامورینو یوه بله برخه، چې له بهرني سیاست څخه خبر نه وو، او کورنی سیاست کې یې دلچسپي نه وه، یواځې یواځې او په بډې اخیستو او پیسو ټولولو بوخت وو، په دې توګه پاچا یواځې پاتې شو، نور نو ده کوم ګوند او با کفایته مشاورین نه لرل، د هغه پخواني ملګري او فعال د عقیدې همکاران، چې د رژیم په بدلولو کې یې خدمت کړی و، ورور ورو د پاچا له خوا څخه لرې کړل شول، یو شمېر یې د هېواد دننه ولایاتو ته او یو شمېر نور په بهر کې سفارتونو ته واستول شول او له مرکز څخه لرې منصوب شول. په دې توګه د سیاست ډګر او اداره د دولت مخالفو ډلو ته پاتې شوه، چې ددغه دولت له نړېدو څخه وروسته دا څرګنده شوه، چې په څه ډول سره د دولت یو شمېر لوړ پوړو چارواکو د خوست، شینوارو او کاپیسا په ار-دوړ کې لاسونه لرل. د دولت یو حاکم اعلی (هندي امرالدین خان) د پکتیا د خلکو د لمسون لپاره په

عامه غونډو کې قانون د شریعت ځای نیوونکی وښود او په هرات کې یوه والي (محمد ابراهیم خان) د کوټوالي د قوماندان محمد محفوظ خان هندي په لاس بندیان دومره وږي ساتل، چې دجیل بام ته به ختل صلوة ناري به یې وهلې او آذانونه به یې کول او ښاریانو ته به هره ورځ دغه ډرامه لیدله. یوه بل والي (عظیم الله خان) پرته له مدافعې څخه د بدخشان او قطغن ولایت د سقاو زوی ته وسپاره او یوه بل والي (د کابل والي علي احمد خان) د ادارې او چارو د تنظیم په نوم کاپیسا ته ورته او په پټه یې سید حسین او د سقاو زوی حبیب الله سره تړونونه کول او یو بل (احمد علي خان رئیس تنظیمیه) کاپیسا او د پروان ته ورته او د دولت په وسلې یې داړې او غله وسله وال کول. یوه بل نظامي قوماندان (محمد ګل خان مومند) د شینوارو د اړ-دوړ پر مهال په جلال آباد کې قصداً خپله دنده پرېښوده او په لسګونو نور مثالونه. باتې د هېواد پراخه بزګران هم هر ورځ د دولت د مامورینو د بډو او ورځ په ورځ زیاتېدونکو مالیاتو له لاسه ښه ورځ نه لرله او د دولت د نه پاملرنې له لامله له دولت څخه مرور او پاڅون ته چمتو کېدل.

البته بهرنی مخالفانه سیاست کولای شول په ډېر ښه ډول له دغې مساعدې زمینې څخه د دولت د نړولو لپاره کار واخلي، په تیره بیا چې اماني دولت د هېواد دروازې هر بهرني په تیره بیا د مستعمراتو د مسلمانانو پر مخ پرانیستي پرېښې وې، تر دې مهال پورې لا دولت جاسوسي ضد تشکیلات نه لرل او د هغه د ضبط احوالات اداره فقط د هغه د دوستانو په تعقیب کولو پسې بوخته وه، نه د هغه د دښمنانو په تعقیب. آن دا، چې تر څو چې سنګوخېل د دولت په عسکرو او افسراانو برید وکړ بیا ایله دولت خبر شو او د سقاو زوی چې کله د ارګ د دروازې شاته راغی، نو تر هغه وخته هم دولت خبر نه و او د افغانستان د ضبط احوالات ریاست نه و خبر. حال دا، چې بهرني عمال په ټول افغانستان کې د ټولو خلکو او په ادارو کې دننه شوي وو او په کلیو او ښارونو کې د تاجر، ملا، غالي پلورونکي، سماواچي، مامور، ژباړونکی ډاکتر، ښوونکی او نورو نومونو باندې بوخت وو. د ادارې دغه ډول فساد د افغانستان خلک د دولت له ملاتړ څخه واړول او له بلې خوا د بهرني استعمار د جاسوسانو اقداماتو او د کورنیو ارتجاعي عناصرو دسیسو او توطئې په پټه توګه سره یو شول بیا یې افغانستان په سرچپه توګه د یو تاریخي بدلون درشل ته ور وست او دا د دوی د استعماري سیاست یوه لوبه وه، چې د هر نوي غورځنګ په را ځرګندېدو سره یې افغانستان ډېر زیات شاته وغورځاوه. استعمار د یوې ټولنې له تاریخي بدلون او بشپړتیا څخه بې خبره و، خو په دې باندې پوهېده، چې د دغه بدلون چټکوالی وځنډوي او په هرو لسوکلونو کې یو د پام وړ هېواد اړ کړي، چې د پیل ټکي ته ور وګرځي او حرکت له سره پیل کړي.

## په پکتیا کې اړ-دوړ (۱۹۲۴)

د دغه اړ-دوړ پیلامه لا ډېره مخکې په پکتیا کې رانښلول شوې وه، په تېره بیا هغه مهال، چې خلک له پاچا څخه په دې خبره باندې خپه شوي وو، چې پاچا د انګلیس په وړاندې د آزادو سرحداتو اوسېدونکو ملاتړ نه و کړي، یو شمېر خان او ملکان هم د خپلو امتیازاتو له لاسه ورکولو له لامله له دولت څخه لرې شوي وو، دوی هم د پکتیا د بیکاره حکومت او خلکو له ناخوښۍ ګټه پورته کړه او د

اړ-دوړ لاربښوونه یې خپل لاس کې ونیوه، وروسته بیا ولیدل شول، چې دانګرېز دولت په سیده توګه په دغه اړ-دوړ کې لاس درلود، دا ځکه چې د افغانستان بهرنی سیاست د انګلیس د سیاست په ضد کېږ او انګرېزانو ددغو دوو دولتونو د سیاست دغه تضاد دومره سخت کړی و، چې د پخلاینې او سره نږدې کېدو لپاره یې هېڅ امکان نه و پرېښی. په دې معنا چې افغانستان فقط دخپلې خپلواکې په ساتنه او د خپل برخلیك په ټاکلو قانع کړل شو، نو بیا یې دانګلیس له خیر او شر دواړو څخه لاس ومینځ، حال دا، چې د انګلیس دولت د هندوستان تر څنګ یو پیاوړی او مترقي افغانستان نه غوښت. له همدې لامله یې د افغانستان له خپلواکۍ څخه نیولې بیا تر ۱۹۲۱ کال پورې یې له افغانستان سره د متساوي الحقوق قرارداد له لاسلیك کولو څخه ډډه کوله او دا هڅه یې هم کوله، چې له شوروي اتحاد سره د افغانستان د اړیکو مخه ونیسي. انګرېزانو په ۱۹۲۱م. کال کې افغانستان ته یوه یادښت وسپاره او په هغه کې یې یادونه کړې وه، چې له افغانستان څخه د شوروي قونسلګرۍ وباسي او له شوروي اتحاد سره خپلې اړیکې پرې کړي او د هغو پر ځای دې په هرات او غزني او نورو ښارونو کې د انګرېزانو استازي ومني. له همدې لامله ددغه کال په که نه پرته له هغه به انګرېزان خپلې اړیکې له افغانستان سره پرې کړي. په دغې غونډه کې چې اوړي کې یوه افغاني مشورت غونډه د شاهي ارګ په شمالي برج کې جوړه شوه، په دغې غونډه کې چې په خپله د پاچا تر مشرۍ لاندې جوړه شوه، په هغې کې کابینې او د مدیر تر درجې پورې مدیرانو او د کندك مشر تر رتبې پورې نظامي افسرانو ګډون وکړ. غونډه دوه ورځې اوږده شوه (زه د دغه کتاب لیکوال ددغې غونډې یو ګډون کوونکی وم او د "افغان ځوانانو" په استازیتوب مې په لیکلې توګه د انګرېزانو پورتنۍ یادښت د افغانستان د خپلواکۍ تر پښو لاندې کول وبلل او د هغه د رد کولو غوښتنه مې وکړه.) د هغې رایې اخیستنې په پایله کې چې ترسره شوه داسې څرګنده شوه، چې ټولو ګډونوالو د انګرېزانو دغه یادښت رد کړ او د اړیکو پرې کولو ته یې ځانونه تیار کړل. اګر که دغه د اړیکو پرې کونې د افغان-انګلیس په څلورم جنګ هم پای ته ورسېږي، خو بیا خپې سردار شیر احمد خان د انګرېزانو د یادښت په اړه وویل چې د جګړې په پرتله به دا ښه وي، چې دغه یادښت ومنل شي.

کله چې د انګرېزانو دغه غوښتنه په افغانستان کې ونه منل شوه، نو دغه دولت د شوروي دولت ته پام واړاوه. د ۱۹۲۱م. کال په دسمبر کې یې دغه هېواد ته یو یادښت واستاوه او د هغه له لامله یې په شوروي اتحاد باندې اعتراض وکړ کوم، چې د شوروي او افغانستان تر منځ لاسلیك شوی و او ویې ویل، چې شوروي دولت په ایران، هند او افغانستان کې د انګرېزانو په ضد تبلیغات کوي او په تاشکند کې یې تبلیغاتي مرکز پرانیستی دی او د هندوستان انقلابیونو ته یې مسکو ته د ورتګ بلنه ورکړې ده او له افغانستان څخه یې غوښتې دي، چې ددغه هېواد په جنوب کې یې قونسلګرۍ پرانیزي. البته د شوروي دولت د انګرېزانو دغه ادعا رد کړه. له دې ټولو سره سره بیا هم لارد کرزن د ۱۹۲۳م. کال د مې په اتمه نېټه د شوروي دولت ته التماتوم ورکړ، چې باید خپل استازي له ایران او افغانستان څخه بېرته مسکو ته وغواړي (حال دا، چې دا مهال شوروي اتحاد د ۱۹۲۲م. کال د اپریل په ۱۲مه له جرمنۍ سره د (راپالو) د تړون په لاسلیك کولو سره د یو کاملته الوداد هېواد په توګه د برست لیتوفسك تړون لغو کړ

او د انګلیس او فرانسې په وړاندې یې لوی سیاسي بریالیتوب ترلاسه کړی و، خو بیا هم دانګریزانو دا بلنه هم رد شوه (دوی په ۱۹۲۱ کې دشوروي له استازي کراسین سره د رسمي سولې تر مهال پوره یو د لنډې مودې ترون هم درلود او د دواړو خواوو بندیان خوشې شوي وو او سوداګریزې اړیکې یې هم تر منځ پیل شوې وې) په دې توګه دانګلیس دولت بېرته خپل بام افغانستان ته راواړاوه او ویې غوښتل، چې د کورني اړ-دوړ په جوړولو سره د افغانستان ځوان دولت له منځه وړل یوسي. انګلیس په دې باندې پوهېدل، چې د افغانستان د خپلواکۍ بېرته له منځه ددغه هېواد د ملي پرتم او درونډوالي له لامله د انګلیس له ځواک څخه اوچته خبره ده، خو دا یې غوښتل، چې په افغانستان کې یو داسې دولت وي، چې په ښکاره خپلواک، خو په عمل او باطن کې فقط د انګرېزانو په لاس ورته دیکتوشي او لارښودنه یې وشي او په دغه ډول یوه دولت سره یې د پیاوړتیا او ترقي مخه ونیول شي او د شوروي له دولت سره یې د نږدې کېدو مخه ونیول شي.

د انګلیس ددغې هیلې د پوره کېدو لپاره د پاچا ناوړه اداري او د افغانستان د پاچا چلند لاره هواره کړه، تر څو چې د ۱۳۰۲ ش. کال د کب په میاشت کې (۱۹۲۳) د پکتیا دوو تنو ملایانو: ملاعبدالرشید خان او ملاعبدالله خان ګردیزي د منګلو او ځدرانو د قومونو په ملاتړ د خپل یوه اوږده لیك په ترڅ کې د عمومي جزا د قانون یو شمېر موادو په هکله چې هغه یې د شریعت مخالف بللي وو، له پاچا وغوښتل، چې هغو کې بدلون راولي. پاچا د دوی په ځواب کې وویل، چې دغه قانون لا د مخه د شرعي عالمانو له لوري تصویب شوی دی، نو ځکه دغه دواړه باید له دغو علماوو سره د خبرو په خاطر کابل ته راشي، دغوملایانو دغه بلنه ونه منله او د اسلامي شریعت د ساتنې په نوم یې په پکتیا کې پاخون وکړ.

د پکتیا بزګران هم، چې د دولت د مامورینو له چلند څخه په تیره بیا د هغه ولایت د اعلی حاکم څخه خوریدلي وو، دملا عبدالله او ملا عبدالرشید خان تر شا ودرېدل. دا مهال دوی سره یو شمېر مغرض خانان هم یو ځای شول. په عین وخت کې داسې هم احساس کېده، چې په پروان ولایت، ننګرهار اوپکتیا کې د دولت په ضد تبلیغ هم شروع شوی دی. پاچا د سردار محمدعثمان خان او د عدلیې د وزیر محمدابراهیم خان او د مرافعې د قاضي عبدالرحمان خان په ګډون یو پلاوی هلته واستاوه، خو ملا عبدالله او ملا عبدالرشید مخالفت وښود. په دې توګه پلاوي بېرته کابل ته راستون شو. وسله وال اړ-دوړ زور واخیست. ددغه پلاوي لېږلو یواځې او یواځې د پاخون کوونکو لپاره یو فرصت برابر کړ، چې په عین وخت کې یې اړ-دوړ کوونکي په رسمیت وپېژندل او د هغوی دریځ یې اوچت کړ. د ۱۳۰۳ ش کال په پیل کې (په ۱۹۲۴) کې وسله والو اړ-دوړ کوونکو ځواکونو د ګردیز ښار کلابند کړ او د تیرا په غابښې یې بریدونه وکړل. د همدغه کال په پسرلي کې د انګلیس حکومت په آزادو سرحداتو کې نظامي سوقیات ترسره کړل او هغه وسله، چې افغانستان له بهر څخه پیرودلې وه او د هند له لارې را روانه وه، د هغې له ترانزیتي لېږدونې څخه یې هم مخنیوی وکړ. په دې توګه د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې خرې پرې شوې، په هر حال د دولت او د پکتیا د زړورو خلکو تر منځ د استعمار په غوښتنه او کته جګړه پیل شوه، دا ځکه چې د پکتیا خلکو د افغان-انګلیس په دریمه جګړه کې د ښمن ښه پوره

ځپلي و، نو ځکه د استعمار له نظره دوی د ځپل کېدو او ټکول کېدو وړ وو. همداسې هم د پروان او کاپیسا (کوه دامن او کوهستان) خلکو او د ننګرهار او غلجیو قومونو، چې د افغان-انګلیس په لومړۍ او دوهمه جګړه کې دښمن ځپلی و، دوی هم د استعمار له نظره د ټکولو وړ وو، خو دښمن دغه کسان اخیستل راتلونکي ته پرېښي و. د پکتیا جګړې یو کال وخت ونیو، دغې جګړې د افغانستان خوان دولت ته د ټول افغانستان د یو کال مالیې په اندازه زیان واړاوه له دې پرته د غلې-دانې او د څارویو د بوسو بیه په کابل، د کابل شا وخوا، زابل، لوګر او پکتیا کې ډېره لوړه شوه. یو من غنم یوې روپۍ ته وختل او پېنځه چارکه وربشې هم یوه روپۍ شوې. یو خروار بوس لس روپۍ، یو من غوړي څوارلس روپۍ د غزني په ولایت کې شول. حال دا، چې له دې جګړې څخه مخکې په غزني کې د غلې بیه تر ټولو ارزانه وه، ددغې اوږدې جګړې په ترځ کې لومړنۍ سوبه د پکتیا د خلکو په برخه شوه، دا ځکه چې خلك د سیمه ییز حکومت له چلند څخه ناخوښه وو، نو ځکه یې د دولت ملاتړ ونه کړ. اړ-دوړ کوونکو په خوست برید وکړ. محمدګل خان مومند ثاني غونډ مشر د افغانستان د ارکانحرب رئیس له کابل څخه له دوه سپرو ټولیو سره د خوست قشلې ته ورسېد، خو هلته یې پرته له جګړې څخه ځان په کلابندۍ کې راوست، چې وروسته بیا له همدې لامله په کابل کې د دولت د غوسې وړ وګرځېد او ډېره موده وزګار پاتې شو، خو وروسته بیا دولت عفوه ورته وکړه او د بلخ د پوځ د قوماندان په توګه یې مقرر کړ. همدا مهال سلیمانخېلو د دولت په هغې خزانې باندې برید وکړ، چې له غزني څخه ګردیز ته لېږدول کېده. حربیه وزیر محمدولي خان چې له کابل څخه له اوه کنډکه سرتیرو سره ګردیز ته استول شوی و، هم د اړ-دوړ کوونکو له خوا کلابند شو. له کابل څخه یو بل ځواك، چې د ارکان حرب د مرستیال غونډمشر عبدالحمید خان او غونډ مشر محمداسمعیل خان تر مشرۍ لاندې وو او اته سوه سرتیري د (جان فدا) تر نوم لاندې ورسره وو، د تیرا د غاښي د پرانیستلو په خاطر او په ګردیز کې د حربیې وزیر سره د یو ځای کېدو لپاره ولېږل شو. خو د لوګر په بیدك په سیمه کې د پاڅون کوونکو د یوه ویرووونکي شباخون له لامله ټول ووژل شول. د زمري د میاشتې په ۲۲مه نېټه د لوګر نظامي چونۍ د شورشیانو له خوا کلابنده شوه، ورپسې اغوجان تنګي (تنګی واغجان) په یوه ناځاپي برید کې ونیول شو، په دې توګه پلازمینه کابل په سیده توګه تر ګواښ لاندې ونیول شو. لږ موده وروسته اړ-دوړ کوونکو غزني کلابند کړ او احمدزیو او طوطاخېلو د تیرا کنډو د منګلو پاڅون کوونکو ته ور وسپاره او د کابل اړیکې یې له پکتیا سره پرې کړې دا یوازې نه، بلکې اړ-دوړ کوونکي له غزني څخه د کابل په لوري را روان او د وردګ تر شیخ آباد او تکیې پورې راورسېدل. دلته ملا عبدالاحد او هغه ورور سحبان په شیخ آباد کې د دولت خزانه لوټ کړه. د انګلیس دولت ته دا هر څه په زړه پورې وو. سیده لاسوهنه یې پیل کړه او د امیر محمدیعقوب خان د زوی په نوم یې یو هندوستانی پکتیا ته دننه کړ. دغه عبدالکریم نومې خدرانۍ ته ورغی او هلته یې د اړ-دوړ مشرتوب په غاړه واخیست او ځان باندې یې د امیرعبدالکریم نوم کېښود. ملا عبدالله او ملا عبدالرشید چې لا پخوا یې د خبرو-اترو په ترځ کې د کابل پلاوي ته په نره سره ځواب ویلای و، دادی اوس یې په ډاډه زړه عبدالکریم ته وویل، چې په لوګر کې باید د دولت له

مامورینو او ملایانو سره خبرې اترې وکړې. له دې ډلې څخه د دوی موخه دا وه، چې نور ملایان هم د عبدالکریم امارت ومني. د دوارو خواوو تر منځ دغه خبرې اترې د لوګر د "شاه مزار" په سیمه کې ترسره شوې، خو کومه پایله ورڅخه ترلاسه نه شوه، نو ځکه بیا جګړه پیل شوه. دغه جګړه په لوګر کې درې ورځې روانه وه.

دغو پېښو په ترځ کې د دولت دښمنان وزګار پاتې نه شول، دوی په ننګرهار ولایت کې داړې اچول پیل کړل. په خوږیانو کې د دوو سیمه ییزو خانانو تر منځ کورنۍ جګړه پیل شوه، په کاپیسا او پروان کې هم لاره وهونکي او داړه ماران را پیدا شول او ددغو ولایتونو امنیت ته یې ګواښ پېښ کړ. په کابل کې نعمت الله قادیاني د استعمار په ګټه تبلیغات پیل کړل، وروسته ورپسې ملا عبدالعلیم چهار آسیابي او ملا نورعلي کهنه فروش دغو ناوړه تبلیغاتو ته دوام ورکړ، چې له دوی څخه داسې لیکونه ترلاسه شول، چې له بهر سره یې اړیکې درلودې. په همدې ترځ کې یو بل بهرنی شیخ، چې سید سعدي (پندي نومیده، ځان یې شیخ عبدالقادر جیلاني پورې تړلی و، افغانستان ته راغی. ده ته د پاچا امان الله خان له خوا یوه سینګار شوې امسا، د سپینو زرو یوه قلمداني او د سرو زرو ساعت انعام ورکړل شو.

لفټنټ کلنل اف. اچ همفریز د انګلیس مختار وزیر هم د ځبرو-اترو په خاطر انګلستان ته ولاړ او قونسل خان بهادر سید محمد چې د دولت په ضد د خلکو په پاڅولو کې ناکام شوی و، سملي ته ور وغوښتل شو، چې هلته یې د ځان وژنې په موخه د سملي د مسلم په هوټل کې په ګولۍ وویشت، خو مړ نه شو او ژر روغتون ته یووړل شو.

په همدې کال کې پاچا امان الله خان نورالمشایخ مجددي (حضرت فضل عمر) باندې شکمن شو او ویې غوښتل چې هغه بندي کړي، خو شمس المشایخ مجددي (حضرت فضل محمد)، چې یو مجاهد سړی او د انګرېز او استعمار مخالف شخص و او د انګرېزانو له واک څخه یې د سرحدونو خپلواکي غوښته، د هغه د بندي کولو مخه ونیوله او پاچا، چې دغه روحاني ته درناوی درلود، نو نورالمشایخ یې بندي نه کړ، خو ویې ویل چې هغه باید له افغانستان څخه ووځي. نورالمشایخ له خپلې کورنۍ سره د افغانستان له پولو واوښت او په کویټه او ډېره اسمعیل خان دیره کې میشت شو، خو افغاني حکومت انګلیسانو ته یو لیک واستاوه او له هغوی څخه یې وغوښتل، چې نورالمشایخ باید د افغانستان له پولو څخه لرې شي، په دې توګه نورالمشایخ بمبئ ته ولاړ. د تګاو اخوندزاده صاحب (ملا حمید الله خان) هم په همدې کال له کابل څخه د حج په نیامت ووت، پاچا هغه ته لس زره روپۍ او یو موټر سوغات ورکړل.

د پکتیا جګړه چې په هر ځای کې به زیاتره د اړ-دوړ کوونکو په ګټه وه، یو ناڅاپه یوه نوي پړاو ته ددننه او سرچپه شوه، په دې معنا چې عبدالکریم هندوستاني پکتیا کې د امارت دعوا وکړه، د افغانستان دولت د هند د حکومت له دغې بېړې څخه ښه ګټه اوچته کړه او ډېر ژر یې په ټول هېواد کې داسې خبرونه خپاره کړل، چې ددې خبرونو په خپرېدو سره هغو خلکو چې له دولت څخه د ناوړه ادارې له لامله په زړه کې خپګان درلود او د پکتیا په جګړه کې ناپېیلي پاتې وو، کله چې پوه شول چې د پکتیا اړ-دوړ دیني اړخ نه لري باکې سیاسي اړخ لري، او هغه هم د انګرېزانو په لاسوهنه پیل شوی دی، نو ډېر ژر

د دولت په ملاتړ راپاځېدل او د بهرني ځواك په وړاندې سره يو موټي شول. په دې توګه د شمال ولايتونو د لس زره سپور ځواك او د ننګرهار ولايت د اولس زره وسله والو لښکرو په غاړه واخيستل او همداسې هم له کاپيسا او پروان څخه هم مرستندوی ځواکونه راورسېدل.

هزاره خلکو پاچا ته وليکل، چې مونږ تر اوسه پورې د پکتيا والو ورونو په جګړه کې لاس وهنه نه کوله. خو اوس چې د هندي عبدالکريم په واسطه بهرني لاسونه افغانستان ته را اوړده شوي دي، مونږ حاضر ياستو، چې تر پنځوس زره تنو پورې وسله وال دولت ته وسپارو. په خپله په پکتيا کې هم عمومي احساسات وروسته د هندي عبدالکريم له راتګ څخه واوښتل. د ځاځيو او ځمکنيو خلکو د دولت پلويتوب پيل کړ او د خوست هندوانو د دولت د عسکرو خوراکه په غاړه واخيستل، د کابل ښار لوګر ته د لښکر شويو دري کندکه سرتيرو د معاش ورکړه په غاړه واخيسته. د کابل يو شمېر ښځو خپلې ګاڼې دولت ته د بسپنې په توګه ورکړې.

د کابل د ښوونځيو درې زره زده کوونکو د حرب له وزارت څخه هيله وکړه، چې دوی ته وسلې ورکړي او د جګړې ډګر ته دې واستوي. يو شمېر دغه زده کوونکي خوست ته واستول شول په ښوونځيو کې نظامي زده کړې پيل شوې او له بلخ او کندهار څخه مرستندوی ځواکونه را ورسېدل[1] په کابل کې د جرمني د سفارت شارژ دافير ډاکتر ګروبا په افغانستان کې نورو ټولو جرمني اتباعو سره يو ځای دې ته حاضر شول، چې د پکتيا سنګرونو ته ولاړ شي، چې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت ور څخه منڼه وکړه. همدا رنګه د شوروي اتحاد، فرانسې او ترکيې سفارتونو هم تاوده احساسات او دوستانه هيلې ښکندې کړې. تر دې وخت پورې د دولت افسرانو په بېلا بېلو سنګرونو کې د دفاع له دريغ څخه د بريد دريغ ته واوښتل. محمود طرزي په همدې کال کې په پاريس کې افغاني سفارت پرېښود، کابل ته راغی او د بهرنيو چارو دوزارت چارې يې په لاس کې ونيولې او د اماني اوامانيه د ښوونځيو زده کوونکو يوې ميلمستيا په جوړولو سره ددغه درانه سړي درناوی وکړ. همداسې هم د هرات تنظيميه رئيس شجاع الدوله خان کابل ته راغی، پروان او کاپيسا ته ورغی او د تنظيميه رئيس په توګه يې عمومي امنيت ټينګ او لاره وهونکي داړه ماران يې له منځه يووړل. غلام محمد خان د تجارت وزير غزني کې امنيت جوړ کړ او جنرال غلام نبي خان ننګرهار راټينګ کړ. نامتو جنرال محمد عمر سور هم په غزني باندې د پکتيا د اړ-دوړ کوونکو بريدونه شنډ کړل او له هغوی څخه يې ۹۰۰ تنه ور ووژل. دغه جنرال د پکتيا هغه اړ-دوړ کوونکي هم پسې واخيستل، چې شيخ آباد او تکيه يې نيولي وو. په دې توګه کابل له ګواښ څخه وساتل شو. په کابل کې نظامي محکمې ملا عبدالاحد او ملا سحبان وردګ، چې د شيخ آباد خزانه يې لوټ کړې وه دهغوی له څلورو تنو ملګرو سره يو ځای اعدام کړل. همداسې هم ملا نور علي او ملا نعمت الله قادياني هم اعدام شول. غونډ مشر محمد امين خان د لوګر نظامي کلا وساتله او د پکتيا له لوري بريد کوونکو ته يې ماتې ورکړه. غلام نبي خان څرخي د لوګر په اغوجان تنګي (تنګي

۱- امان افغان جريدې د ۱۳۰۳ ل. کال په ګڼو کې يعنې د جګړې د کلونو په ترڅ کې دغه ټولې پېښې په تفصيل سره راوړي دي.

واغجان، کې د اړ-دوړ کوونکو ځواکونه مات کړل. غونډ مشر محمد غوث خان مات شوی اړ-دوړ کوونکي پسې وځغلول. سردار شاه ولي خان په لوګر کې له اړ-دوړ کوونکو سره خبرې-اترې پیل کړې او میرزمان خان کونړي او جنرال عبدالوکیل خان د لوګر په جګړه کې پوره زړورتیا څرګنده کړه. کنډک مشر رجب علیخان د انشاأتو د قطعې مشر او ټولی مشر جان محمد خان نورستاني په خپلو دندو کې د زړورتیا له امله د نظامي افسرانو د پام وړ وګرځېدل. بهرام خان سرخابی د لوګر د ټولو سیمو امنیت د دولت په پلویتوب وساته. ټول احمدزي د اړ-دوړ کوونکو له لیکو څخه ووتل او د هغوی استازي میر غوث الدین خان د جهانداد زوی کابل ته را ورسېد. په دې توګه د دولت افسران او مامورین د پکتیا ولایت ته ورغلل، په دوی کې سردار شاه ولي خان، غلام نبي خان څرخي چې د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال و، جنرال محمدعمرخان او علي احمدخان د ننګرهار تنظیمیه رئیس او نور وو. دا مهال د تیرا کنډو اړ-دوړ کوونکو پرېښود او د کابل او پکتیا تر منځ بېرته اړیکې پیل شوې. له بلې خوا د حرب وزیر محمدخان، چې له ګردیز څخه یې د ارګون، کتواز او خوست او ځدرانو څارنه کوله د میرزکې د سیمې اداره یې سردار شاه ولیخان ته او د میرزکي او خوست تر منځ سیمو اداره یې د شرقي تنظیمیه رئیس علي احمدخان ته وسپارله او په خپله یې د زرمت اړ- دوړ کوونکي وځپل او ۴۰ تنه یې ورڅخه برمته ونیول او د کتواز امنیت یې هم سمبال کړ. د عبدالکریم خان تحصیلدار زامن یې هم برمته کړل، ورپسې ارګون او ځدرانو ته ورغی او د سپین تخت، شاهي کوټ، زرمت او نیکه په جګړو کې بوخت شو خو د نیکه ځدرانو په جګړه کې یواځې جنرال محمدعمر خان بریالی شو. د حرب له وزیر سره حبیب الله خان د حربیه وزارت مرستیال هم یو ځای و، چې مخکې یې یو ځل د میرزکي په سیمه کې منګلو ته ماتې ورکړې وه، د حربیې وزیر وروسته د ځدرانو له لومړیو جګړو څخه خوست ته ولاړ او هلته یې دولتي ښوونځي بېرته فعال کړل. په دې توګه د پکتیا لوی اړ-دوړ د افغان زلمیانو په وینو پای ته ورسېد. وروسته تر هغه په ټوله پکتیا کې د منظمو او نا منظمو سرتیرو ۸۰ کنډکونه ځای پر ځای شول. د پکتیا داړ-دوړ کوونکو وروستي ځواکونه (دسنك خان، زلمی خان او دمنګلو دموسی خېلو ځواکونه) وو، چې هغه هم د دولت د ځواکونو په وړاندې له ماتې سره مخامخ شول او وتښتېدل. نامتو ببرك خان ځدراڼ، چې د هېواد یو نامتو غازي او د مرکزي دولت له پلویانو څخه و د همدغو جګړو په ترځ کې د دولت په پلویتوب کې ووژل شو.

هندوستاني عبدالکریم خان بېرته هند ته وتښتېد او ظاهراً د انګلیس پولیسو هغه توقیف کړ او بیا یې برما ته واستاوه. خو مولوي یارمحمدخان مقري له افغانستان څخه هند ته ورغی او هغه پسې آن تر برما پورې ورغی او هلته یې پیدا او مړ یې کړ او بیا بېرته هېواد ته راستون شو، حال دا چې افغاني جنرال قونسل حاجي محمداکبر خان په دغو برخو کې هېڅ ډول مداخله ونه کړه، خو په خپله پاچا یارمحمدخان وستایه. هغه په کابل کې پاتې شو، خو د امانیه دولت له را پرځېدو وروسته زندان ته واچول شو او کلونه کلونه هلته پاتې شو تر څو بوډا او ناروغ شو او بیا راخوشې شو او مړ شو. همدا رنګه ځدرانو ملا عبدالرشید او ملا عبدالله، چې غرونو ته ختلي وو، ونیول او دولت ته یې وسپارل. په دې توګه دواړه د

کابل په نظامي محکمه کې په مرګ باندې محکوم شول او د اړ-دوړ د نورو ۲۵ تنو سرکښو سره یو ځای د ۱۳۰۴ لمریز کال (۱۹۲۵م.) د غبرګولي په څلورمه په ګولیو وویشتل شول. څو سوه نور د سرتیرو دله ییزې وژنې او د غنډ مشرانو عبدالحمید خان او محمداسمعیل خان د قتل په تور د لوګر په بیدال کې ونیول شول او د هېواد شمالي ولایتونو ته تبعید شول او نور یو شمېر په کابل کې په برمته توګه وساتل شول. البته دولت د ارتجاعي اړ-دوړ کوونکو په جګړه کې بریالی شو، خو په خپل ریفورم کې د ۱۳۰۳ لمریز (۱۹۲۴م.) د لویې جرګې له خوا ناکام شو. دا ځکه چې پاچا د اړ-دوړ په ترخ کې د پغمان لویه جرګه راوبلله، چې په هغې کې ۷۰۰ تنو څخه زیاتو استازیو ګډون وکړ او موخه یې دا وه، چې د پکتیا د اړ-دوړ په وړاندې دملت ملاتړ ترلاسه کړي، خو په هېواد کې څرګند سیاسي او قانوني ګوندونه نه وو او په انتخاباتو کې هم د رایې اچولو صندوقونه او لیکل شوې پاڼې نه وې. د جرګې لپاره غوره شوي استازي زیاتره روحانیون او لوی خانان وو، چې د ټولو د خپلو طبقاتي ګټو ساتنه کوله. دوی ته دعامه ګټو او د بزګرانو، شپنو او پیشورانو ګټې مطرح نه وې د روڼ اندو او بزګرانو استازي ډېر لږ وو او د اکثریت وګړو د پلویانو رایه د هغوی په پرتله ډېره لږه وه. په تیره بیا پاچا د پکتیا د اړ-دوړ کوونکو تر ګواښ لاندې و، نو ځکه اړ شو، چې له فیوډالو، لویو سوداګرو او روحانیونو سره روغه وکړي، په دې توګه دغه طبقه چې د پغمان په لویه جرګه کې یې ډېره برخه وه، لاندینۍ ۱۹ توکیزه پرېکړه وکړه، نو دغه پرېکړه خامخا پاچا لاسلیک کړه او په خپله پاچا به ددغه ډول لویو جرګو مشرتوب کاوه. په دې توګه د ریفورمونو لومړي پړاو ته ډېر کلک ګوزار ورکړل شو.

مقدره سزا، تعزیر باالمال او په ښوونځي کې د نجونو زده کړې لغو، د صغیرې نجلۍ نکاح جایزه او په تعزیراتو کې د قاضي واک اوچت کړل شو، په بیا ځلي غلا کې د غله وژل واجب او د مجرم یا جنایتکار په تندي باندې د اصلاح او توبې د نښو را څرګندېدل دجزا د کمښت وړ وبلل شول. د دولت د مامورینو په محکمو کې د قاضي او مفتي ګډون حتمي وبلل شو. په ښوونځیو کې د بهرنیو ژبو د زده کړې لپاره د عقایدو او دینیاتو زده کړه باندې تاکید وشو. د احتساب لپاره محتسبین وټاکل شول، د ملا او مؤذن د چارو تنظیم د دولت په غاړه واچول شول، د فردي آزادۍ کلمه یوازې شخصي چارو پورې ایساره کړل شوه، نه په عقیدوي او سیاسي چارو پورې. په شرعي چارو کې د نفوسو تذکرې او د تابعیت د تذکرې لرل لغوه شول، نارینه بې له کوم قید او شرط څخه آزاد پرېښودل شو، چې څلور ښځې واده کړي. تر بیرغ لاندې خدمت کول یا دهغه په وړاندې د نغدو پیسو ورکول منظور شول، د عربي دارالعلوم جوړېدل حتمي شول او د قرآن د حفظ د مدرسو شتون هم تضمین شو.

د پغمان د جرګې دغه پرېکړې د پاچا، مشایخو، ساداتو او دیني عالمانو په لاسلیک سره په ټول هېواد کې د چاپ شویو پاڼو په واسطه خپرې شوې او دامان افغان جریدې هم هغه د ۱۳۰۳ لمریز کال د وږي د میاشتې د نهمې نېټې په ګڼه کې خپاره کړل، په دې توګه دغې جرګې اساسي قانون تصویب کړ او دولت یې د رسمي مامورینو په ټاکلو کې د صحیح انتخاب او اهلیت په لرلو وګوماره.

Scanned by CamScanner

## وروسته تر اړ-دوړ څخه

دغه ځواکمن اړ-دوړ چې باید د دولت لپاره د پند یوه متروکه شمېرل شوی وای او د اداري فساد یې اصلاح کړی وای او باید په راتلونکي کې د دولت د یو ښه نظم لامل شوی وای، په سرچپه توګه یې د افغانستان د مطلق العنانه او شخصي اداري په ښه اغېزه وکړه او هماغه پخوانۍ نادودې پاتې شوې.
پاچا نظامي چارو ته پوره پاملرنه ونه کړه او د افغانستان اردو یې هغو ملکي کسانو ته وسپارله چې په نظامي چارو کې یې هېڅ پوهه نه لرله او د حربيې وزير، چې د ټول هېواد د وسله والو ځواکونو دعمومي قوماندان دريځ يې درلود او د عمومي ارکانحرب رياست هم ورپه غاړه وو، عادي او غير نظامي خلك وو، ورو ورو آزمايل شوي او پاخه افسران له حربي چارو لرې شول. د بېلګې په توګه هغو افسرانو، چې د خپلواکۍ په ګټلو او د پکتيا د اړ-دوړ په غلي کولو کې يې خپله نظامي ورتيا ښودلې وه، هغوی لرې هېوادونو ته واستول شول او يا هم له پامه وغورځول شول او آن دا چې سزا ورکړل شوه او پر ځای يې بې تجربې او خام خلك راغلل. د پکتيا غونډ مشر مبارکشاه خان، چې د خپلواکۍ په جګړه کې يې سربښندنه کړې وه، کومه ترفيع يې ونه کړه تر څو چې مړ شو، جنرال محمد عمر خان (سور) چې د خپلواکۍ په جګړه کې يې بېساري زړورتوب ښودلی و، په جيل کې واچول شو. جنرال عبدالقيوم خان پغماني، چې د خپلواکۍ په جګړه کې يې سربښندنې کړې وې د غوسې وړ وګرځېد او کندکمشر دادمحمدخان ارکزايي د سپه سالار لنډي زوی هم بندي شو. همدا رنګه يو شمېر نور جنرالان لکه پنين بېګ خان او نور، خو پر ځای يې محمود سامي نايب سالار او د پلازمينې د قول اردو قوماندان شو او داسې نور.
د اردو بوديجه هم کمه شوه او د پوځ شمېر نيمايي ته راکم شو او په اردو کې بدې اخيستل يو عادي کار وګرځېد. نو په يوه داسې هېواد کې، چې هلته فيوډال طبقه، اشراف او روحانيون د دولت په مخالفت کې وي او د دولت مامورين په بډو خوړلو اخته وي او خپل خلك ورڅخه ځورېږي او د هېواد لپاره تر ځمکې لاندې استعماري فعاليت هم روان وي، نو په داسې هېواد کې د اردو ضعيف کېدل، چې د ريفورمونو تطبيق لپاره وروستۍ وسيله وه، پرته له يونتوب څخه بل څه ګڼل کېدای شي. د پاچا همدغه چلند و، چې په هېواد کې يې د وروستۍ چاودنې لاره هواره او د افغانستان د ځوان دولت د نړېدو زمينه يې چمتو کړه تر څو چې درې کاله وروسته هېواد په بل مخ واوښت.

## بهر ته د پاچا سفر (د ۱۹۲۷ له دسمبر څخه د ۱۹۲۸ تر جون پورې)

په ۱۹۲۷ کې د ايټاليې دولت د افغانستان پاچا ته بلنه ورکړه، چې ايټاليې ته مسافرت وکړي، نو په دې توګه پاچا د ۱۹۲۷م. کال په دسمبر کې له بهرنيو هېوادونو سره د اقتصادي او کلتوري اړيکو د ټينګولو لپاره اروپا ته روان شو. د هغه سفر له کندهار څخه کراچۍ او بمبئ ته و، حال دا چې د انګليس دولت هغه ته په ډيلي کې په تمه و، پاچا د هند په ټولنو کې آزادانه خبرې وکړې او په دې توګه يې د انګليس دولت نور هم خپه کړ، حال دا چې لندن لا د مخه ډيلي ته خبر ورکړی و، چې د پاچا د کړو وړو او خبرو په هکله

ځارنه او ډېر احتیاط وکړي.
په هر حال، پاچا له هند څخه مصر ته او بیا ایټالیا ته ولاړ. وروسته تر هند، فرانسې، بلجیم او بیا جرمني ته ولاړ. په انګلستان کې پاچا په دې باندې وپوهېد، چې که چېرې شوروي اتحاد ته له سفر کولو څخه ډډه وکړي، نو انګلستان له افغانستان سره د هر ډول مرستو کولو ته چمتو دی خو دا یې ونه منله او له دې سره سره شوروي ته هم ولاړ. له هغه ځایه بیا ترکیې ته او بیا ایران ته ولاړ او په پای کې بېرته هېواد ته راستون شو. د افغانستان پاچا ته په نړدې ختیځ کې د لویدیځ استعمار ضد د یوه ختیزوال اتل په توګه او په اروپا کې ورته د بریتانیا دامپراتورۍ په وړاندې په جګړه کې د یو فاتح په توګه هر کلی ووېل شو. په دې ټولو کې یوازې ایران و، چې له تاوده هر کلي څخه یې مخ واړاو، دا ځکه چې د افغانستان ملکې او له هغې سره یو ځای نورو ښځو نقاب او معجز نه لرل، حال دا چې د هغه مهال ایران کې ښځو حجاب کې ژوند تېراوه، د ایران پاچا د افغانستان د بې نقابه ملکې راتګ دغه هېواد ته د خپل هېواد دود-دستور مخالف وګاڼه.
پاچا امان الله په اروپا کې یو شمېر فابریکې وپېرودلې او له بهرنیو هېوادونو سره یې د اړیکو په ټینګولو کې هڅه وکړه، په ترکیه کې د دواړو هېوادونو تر منځ فرهنګي او نظامي دوستي او مرستې په صادقانه توګه ټینګې شوې، خو پاچا ته د نړۍ د نامتو او لویو ستېو له خوا تود هر کلي ویلو د خوان پاچا په طبع عجیبه اغېزه وکړه او هغه یې ځانته غره کړ. کله، چې هغه د لویدیځ تخنیک او د کلتور اوچته کچه ولیده، نو هغه یې په افغانستان کې د دغه کلتور او تخنیك رواجولو کې بیړې کولو ته وهڅاوه، حال دا چې دغه هېواد د دغه پرمختګ د تطبیق له محرکه قوت او د ترقي د لزوم د پوهېدو څخه بې برخې پاتې شوی و. په لندن کې د پاچا د اوسېدو پر مهال د لندن یو شمېر جرایدو هغه ته د افغانستان د ستر پتر (پطر کبیر) نوم ورکړ او غوښتل یې، چې د هغه طبیعي بیړه نوره هم ګړندۍ کړي، حال دا چې په افغانستان کې د دننه مخالف ورانکاري لاسونه لګیا وو د هر ډول ټولنیز بدلون، اصلاحاتو او ریفورم مخه یې نیوله.
کله، چې پاچا راستون شو، نور نو هغه پخواني امان الله نه و، اوس هغه ډېر مغرور شوی و او په هغې بیړې سره چې په اصلاحاتو راوستلو کې یې وکړه، ډېر ژر یې افغانستان د یوې چاودني خوا ته بوت. نور نو هغه پخواني ساده دربار نه و پاتې، کالر او نکټایي، تجمل او فیشن د وطني تړل شوي یخن او ساده لباس ځای ونیو، عیاشي او وخت ښه تیرول پیل شول او رښتینې او ګټور ریفورم په مضرو فرعي لوبو بدل شو. د اصلاحاتو د مرام په تطبیق کې د خلکو هیلې او غوښتنې او مهم ارزښتونه دپاچا په پام کې نه وې او د ملت له خوار ژوند او اقتصادي ستونزو بې خبره و، د بېلګې په توګه په داسې یو هېواد کې، چې هلته په سلګونو اقتصادي، کرنیز، تخنیکي او اداري مشکلات شته او د هغه د اصلاح لپاره باید پاملرنه شوې شوای، هلته پاچا فرمان ورکړی و، چې د جمعې پر ځای دې د شنبې په ورځ رخصتي په ټول هېواد کې عملي شي، حال دا چې د جمعې رخصتي یوه بې زیانه او له زرګونو کلونو راهیسې دود شوې رخصتي ده، چې په ټولو اسلامي هېوادونو کې او له هغې جملې په افغانستان کې د ملت په نزد

مذهبي سپېڅلتيا هم لري. تر او سه پورې هېڅ يوه هېواد د ريفورم تر نامه لاندې خپله اونيزه رخصتي ملا يكشنبه سې شنبې ته نه ده اړولې، دا ځكه چې دا هسې يوه اضافي بدلون و او د ټولنې له ژوند سره بې كوم سيده تعلق نه درلود او نه يې هم د هېواد د پرمختګ مخه نيوله. په همدې ډول پاچا امر وكړ، چې په پلازمېنه كې دې په جادو باندې وليكل شي، چې هېڅ ښځه له برقعې سره له دې ځايه نشي تېرېداى. پوليسو دغه حكم تطبيق كاوه او هغو ښوزلو ښځو به، چې خپلې زړې جامې تر چادري لاندې پټولې او د نبو جامو د اغوستلو وس يې نه درلود، دوى دې ته اړ شوې، چې يو څه ډكو بازارونو ته د خپلو اړتياوو د پيرودنې لپاره ورنشي حال دا، چې د ښځو لپاره د كار كولو په خاطر يوه فابريكه او كارخانه هم نه وه، پاچا دا امر هم وكړ، چې په كابل كې دې ټول خلك دريشي واغوندي او خولۍ به په سر كوي، په ښار كې هر ځاى پوليس ولاړ وو او له سرغړونكو څخه يې نغدي جريمه اخيستله، خو د دريشي لګښت په پام كې نه و نيول شوى، چې ډېرو خلكو يې د پوره كولو وس نه درلود. ددغه امر د ترسره كولو لپاره هېڅ داسې كومه فابريكه نه وه، چې سل زره تنو ته دريشي او خولۍ جوړې كړي، نو ځكه به زياترو هټيوالو د نظامي افسرانو خولۍ په سر كولې، سكانو به چې زياتره خپل اوږده ويښتان په لويو پټكيو كې نغاړل، دوى هم اړ شول چې په ورېنو كش خوليو كې خپل سرونه او پټكي يو ځاى وپوښي، په دې توګه دغې بنې ښار په يوه كاريكاتور انځور بدل كړى و، په تيره بيا په لاس وركولو سره ستړي مشي بنده وه او خلك اړ شول چې د پرنګيانو په شان به خولۍ له سره پورته كوي او يو بل سره به روغبړ كوي، دا مهال په خلكو باندې ماليات هم زيات شول او د خلكو باقيات د ماسلانو (محصلانو) په واسطه ترلاسه كېدل، كڼ شمېر وزيرانو، واليانو او حاكمانو بډې اخيستې. خلكو د شكايت لپاره او د پوښتنې ګروېږنې لپاره كوم مركز نه درلود، د يوه مامور له لاسه عرض او شكايت بېرته په خپله مامور ته راجع كېده. د لسو كالو په ترڅ كې هېڅ كوم وزير، والي او يا حاكم محاكمه او مجازات نشو، باز خواست او پوښتنه ګروېږنه بېخي هېره شوې وه. د لويو مامورينو غوره كول او ټاكل كېدل فقط د پاچا په پېژندنې او باور پورې تړلي وو او په دغه غوره كولو كې لياقت او كفايت په پام كې نه و نيول شوى، زياتره لوى مامورين د نولسمې پېړۍ او پخواني دربار خلك وو. په تېره بيا هغه كسان وو، چې شاهي كورنۍ سره يې اړيكې او خپلوي لرله، ګواكې نوى ريفورم او بدلون، چې د اختراع يو نوى ماشين و، د منځنيو پېړيو د ميخانيكانو په لاس په كار اچول شوى و. سره له دې، چې د ١٩٢٨م. كال د پغمان زر كسيزې لويې جرګې د خپلو ګټو او عنعناتو سره سره د دولت اصلاحي پروګرام ومانه، خو بيا هم نه د كابل او نه هم د ولاياتو كوم استازي ته ددې اجازه ورنه كړل شوه، چې د وزيرانو او حاكمانو د ناوړه اداري په هكله د ملت په استازيتوب كوم ټكى ووايي او د اصلاح كولو كومه لاره وښيي. په جرګه كې ټاكل شوې وه، چې د هر ولايت استازى به خپلې خبرې په ليكلې بڼه، د دولت د شورا رئيس سردار شيراحمدخان ته وسپاري. سردار دا واك درلود، چې د جرګې د خبرو په آجندا كې كوم ټكى وځايوي او كوم پرېږدي. په دې توګه د جرګې د ګډونوالو زړونه مات شول او د كابل استازى غلام محى الدين خان ارتي چې شخصاً يې درې سوه زره روپۍ د دولت له خوا د جنګي مهماتو د پيرودنې لپاره منلې وې، غږ

Scanned by CamScanner

وکړ چې: اعلیحضرتا! تر هغو پورې چې ستاسې په فساد مشهور دغو وزیران محکمې او دار ته بوند
تلل شي، په هېواد کې به هېڅ اصلاحات رانشي. کله چې د انتخابي ملي شورا د جوړېدو په جرګه کې
فیصلې وشوې، زه (ددغه کتاب لیکوال) د پلازمینې د انتخابي وکیل په توګه پاڅېدم ومې ویل چې تر
هغو پورې چې د دولت وزیران د قانون له مخې د ملي شورا په وړاندې مسئولیت ونه لري او یوازې د
پاچا حضور ته مسئول وي، تر هغوی پورې ملي شورا خپل اصلي مفهوم له لاسه ورکوي. خو د جرګې د
ګډون کوونکو دغه بېلا بېل غړونه کوم ځای ته ونه رسېدل. کله چې وکیلان خپلو ولایتونو او کلیو ته
ورسېدل، د دولت د ناوړه اداري پرېکړې د خلکو مخې ته پرانیستل شوې.
وروسته بیا د کابل دستور په غونډه کې کله، چې ددغې غونډې یو تن ګډون کوونکي (عبدالرحمن
لودي) وویل: اعلیحضرت په خپله وینا کې خپل ځان د یوه انقلابي پاچا په توګه راوپېژاند، نو هیله
کېږي چې د دولت په دستګاه کې انقلاب ته غاړه کېږدي. لس کاله کېږي چې د هېواد د صدارت عظمی
دنده په خپله پاچا شخصاً په غاړه اخیستې ده، حال دا چې انقلاب غواړي تر څو د اعلیحضرت پر ځای
یو بل مسئول شخص د افغانستان د صدراعظم په توګه وګومارل شي. البته دغه وړاندیزونه ونه منل
شول، د عبدالرحمن ځواب په هغه سبا د دلکشا په ماڼۍ کې ورکړل شو او هغه داسې چې هغه یې
احضار کړ او د پاچا له خوا ورته امر وشو، چې د دولت له ماموریت څخه خپله استعفا ولیکي (هغه د
کابل د ګمرک رئیس و)
له دې ټولو سره سره د دولت اداري د یوه مطلق العنانه حکومت بڼه غوره کړه، چې په ترورېمۍ کې پر مخ
روانه وه. له همدې لامله محمود طرزي د بهرنیو چارو له وزارت څخه لرې او پر ځای یې غلام نبي خان
څرخي وټاکل شو او هغه د افغانستان د نړیوال سیاست د اداره کولو کفایت نه درلود. همدا رنګه
محمد ولي خان د حربیې وزیر هم له کابینې څخه وایستل شو او هسې په نوم د پاچا د وکیل په توګه
ونومول شو. د سوداګري وزیر عبدالهادي خان داوي هم د کابینې له غړیتوب څخه استعفا وکړه،
میرسید قاسم خان هم لا د مخه د دولت له مهمو دندو څخه لرې کړل شوی و او د هېواد یو شمېر کارپوه
خلک د سفیر په نوم او په نورو دندو کې له افغانستان څخه ایستل شوي وو، خو سره له دې هم دغه
وضعیت په دې معنا نه و، چې ټول وطنپال خلک خامخا له منځه تللي وو، لا هم په پلازمینه او ولایتونو
کې په ملکي او نظامي چارو کې پتمن او با کفایته خلک وو او دندې یې ترسره کولې، خو د اداري طرز
داسې یوه بڼه غوره کړې وه، چې د پاچا د نظر او فکر د استبداد او د یو شمېر غرض لرونکو مامورینو له
لامله او د اصلاحاتو مخالفو ځواکونو په اثر د پاچا په تفکر کې بد معرفي کېدل او د هېواد د امنیت او
ترقۍ په هر ډول چاره کې له خدمت کولو څخه عاجز ګرځول شوي و. په دې توګه د اداري دستګاه
ګډوډي، چې د هېواد د راپرځېدو لپاره یوه سریزه وه، داسې برید ته ورسېدله، چې یوه غله له خپلو
۳۰۰ تنه وسله والو سره پرته له توپ او الوتکې څخه د افغانستان پر پلازمینه یرغل وکړ او د حربیې
وزارت فقط ۸۰ تنه سرتیري او هغه هم د دولتي زیرمو له محافظینو څخه دفاع ته حاضر کړل شول او
بس. البته په دغې ګډوډۍ سره، چې افغانستان یې په یو مهم تاریخي پړاو کې کلونه کلونه شاته

وغورځاوه استعماري سیاست لاس درلود، خو دغه بهرنی لامل په ګډوډۍ کې لومړنی لامل نه و. بلکې د افغانستان د دولت ناوړه اداره د هېواد د مادي او معنوي بربادۍ لومړنی لامل و. همدا ناوړه کورنۍ اداره وه، چې په خپل لاس یې د بهرني مخالفانه فعالیت لپاره لاره هواره کړه او بهرنۍ دستګاه له دغې ناوړه ادارې څخه پوره ګټه اوچته کړه او خپل جاسوسي ماشین یې په افغانستان کې دننه کړ. د بېلګې په توګه په کابل کې یو تن منجم د پاچا د سلطنت د حتمي پرځېدلو اټکل وکړ، ډېر ژر دغه خبره په درباري کړیو کې خوره شوه. همداسې هم په هلمند کې یوه اخوند یو د درواغو خوب تعبیر کړ، چې د پاچا له سره خول پرېوتی دی او داسې نور دا یواځې نه، بلکې د افغانستان په ټول ختیځ کې د افغانستان د ملکې په نوم په زرګونو نیم لوخ انځورونه وویشل شول او د هېواد له ختیځ څخه د سلګونو زده کوونکو تګ قسطنطنیې ته په سرچپه بڼه تبلیغ شو. په شمال کې یو شیخ او په جنوب کې یوه مرشد په ښکاره ډول سره د پاچا کړه وړه د اسلامي د شریعت مخالف وبلل او داسې هم وویل شول، چې نامتو کلنل لارنس د ملایي په جامه کې د افغانستان ختیزو سیمو ته راغی او د اړ-دوړ اور یې بل کړ. دا خبره آن د انګلیسانو او شورویانو په اخبارونو کې هم خپره شوه.

د حکومت د دستګاه دننه هم ښه په زغرده او ددوستۍ په جامه کې سبوتاژ او د کارونو خرابول پیل شول.

نقاب لرونکي ګوند (حزب نقابدار): د وطنپالو روڼ اندو په ډله کې یو شمېر پټ غړي د یوه مصنوعي نقاب لرونکي ګوند په توګه سره یو ځای شول. دوی زیاتره په پلازمینه او د هېواد په ختیځ کې د خلکو دوکه کولو او غافل کولو په موخه راپاڅېدل او په درواغو سره یې "انقلابي شعارونه" ورکول او په څرګنده یې د (جمهوریت) خبرې کولې، خو په واقعیت کې د ډیموکراسۍ او جمهوریت او ترقي دښمنان او د نورو (پردیو) لپاره یې چوپړ کاوه. وروسته څرګنده شوه، چې دغه د استبداد او ارتجاع لاسپوڅي وو، دا ځکه چې دوی د جمهوریت غوښتنې تر نوم لاندې د امانیه رژیم د پرځولو هڅې کولې او په رښتینې توګه یې د یوه ارتجاعي رژیم د راوستلو لپاره لاره هواره کړه، حال دا چې رښتینې دیموکراتان ټول د فیوډالي زاړه نظام پر ضد وو او د هېواد د میلیونونو بزګرانو د ژوند د ښه کولو غوښتنه یې کوله او د ارتجاع په وړاندې یې د اصلاحاتو او اماني دولت د پایښت ملاتړ کاوه.

ددغې ارتجاعي ډلې فعالیتونه په ټول هېواد کې د لمسونونو یو له څپو ډک سیلاو را روان کړ او د خلکو فکرونه یې کاږه کړل. البته په دغو ټولو فعالیتونو کې دروحانیونو تبلیغ ډېره اغېزه لرله، دا ځکه چې همدوی وکولای شول، چې ټول هغه خلک چې پخوا د ادارې له ناوړه چلند څخه ناخوښه شوي وو، د تکفیر او تلعین په وسیله سمبال کړي.

# د یوې لویې توطئې پیلامه

کله، چې امانیه دولت د هېواد دننه د ارتجاعي ځواکونو له ضدیت سره او په بهر کې د انګلیس له مخالفانه سیاست سره مخامخ شو او د خلکو د خرابې اقتصادي وضع له لامله او د ناوړه اداري له کبله د خلکو له ملاتړ څخه بې برخې شو، په افغانستان کې ددغه دولت په ضد یوه ډېره لویه توطئه جوړه شوه. د مخالفینو بېلا بېلې ډلې سره یو ځای شوې او ورانکاري فعالیتونه پیل شول. له دې لامله چې د هېواد شمالي او لویدیځ هېوادونه له پلازمینې څخه لرې پراته وو او مرکزي او جنوبي ولایتونه (هزاره جات او کندهار) د دولت په ضد د پاڅون لپاره ور نه وو او پکتیا د اړ-دوړ ناکامه دوره تېره کړې وه، نو ځکه دښمن په دوونورو جبهاتو کې فعالیتونه پیل کړل یو یې د هېواد په ختیځ کې او بل د پلازمینې خوا سره. البته لومړنی اړ-دوړ له ختیځ څخه راپیل شو. دولت اړ شو، چې هغې خوا ته پوځونه واستوي او په دې توګه پلازمینه له هغو کم شمېر سرتیرو څخه هم تشه شوه، چې دولت لرل. په دې وخت کې اړ دوړ کوونکي د کابل ښار له شمال لوري (کوه دامن او کوهستان) څخه په پلازمینه را شیوه شول او په بې دفاع ښار کې یې ډېر ژر دولت راوپرځاو. هیڅ شك نشته، چې په دواړو جبهو کې اجیر شویو کسانو د اړ-دوړ لارښوونه کوله او یوه اندازه د دولت لوړ رتبه مامورینو ځینو برخو کې ورسره مرسته وکړه. د مخالفینو له نظره دغې ډول نقشې دوه ګټې درلودې: د بریالیتوب په صورت کې دولت له منځه تله او که مخالفین پاتې راغلي وای، نو دولت به دواړو ځایونو کې هغوی لکه د پکتیا په شان ځپلي وای او دغو دواړو زړورو ولایتونو، چې د افغان-انګلیس په دوو جګړو کې یې دښمن په بیساري ډول تکولی او ځغلولی و، سزا لیدله. په هر حال، له پخوا څخه په کاپیسا کې یو زړور او ماجرا غوښتونکی سړی، چې "حبیب الله بچه سقا" نومیده د دولت د مخالفینو له خوا په ډېره ځیرکتیا سره په پام کې نیول شوی و، دغه سړی د ځوانۍ په پیل کې د کوه دامن د یوه ملك په کور کې د شخصي خدمتګارانو څخه یو خدمتګار و. دغه ملك (ملك محسن کلکاني) نور بیوزله شوی او یو بیسواد سړی و، چې د دولت د ریفورمو یو کلك مخالف و.

حبیب الله هم لکه د ملك په شان بې سواده و، خو تر بیرغ لاندې خدمت یې د ۱۹۲۰م. کال په ترڅ کې په نمونه قطعه کې په اردو کې ترسره کړی و، یو غنم رنګه، پریړ او د منځنۍ ونې خاوند سړی و او لنډه کې یې ډېره یې لرله. داسې هم اورېدل شوي، چې هغه د عسکري د خدمت په دوره کې کله نا کله غلا هم کوله. کله یې، چې له همدې لامله یو ځل د کوه دامن په سیمه ییز حکومت کې د بند یوه دوره تېره کړه، نو په ۱۹۲۴م. کې د پکتیا د اړ-دوړ پر مهال هغه د احتیاطي سرتیرو په ډله کې یو ځل بیا جلب او وسله ورکړل شوه او د پکتیا محاذ ته واستول شو. کله چې د دولت ځواکونه بریالي شول هغه جلال آباد ته راستون شو او خپل د عسکرۍ هغه ملګري یې له بند څخه وتښتول، چې په یو شمېر کوچنیو جرمونو بندیان ول او په خپله کابل ته راغی. کله چې هغه بېرته کلکان ته ستون شو، د قلعه حاجي په دښته کې له هغوی یوې ډلې سره مخامخ شو، دغې کوچنۍ ډلې غوښتل چې دده ټوپك په زور ور څخه واخلي خو هغه یې یو تن ووژه، ټوپك یې ور څخه ترلاسه کړ او نور په تېښته وتښتېدل. حبیب الله خپله د حربیې

وزارت ته راغی د وژل شوي سړي ټوپك یې تحویل کړ او کیسه یې ټوله تېره کړه. د حربیې وزارت دغه پېښه په قانوني ډول ونه څېړله او حبیب الله یې رخصت کړ. حبیب الله په کاپیسا کې د غلو یوه ډله جوړه کړه او په خپله یې مشر شو. له دې څخه وروسته په کاپیسا او پروان کې ډېرې د غلا پېښې وشوې. نو ځکه حکومت څېړنې پیل کړې. له همدې نېټې څخه وروسته د غلا عادي پېښې په سیاسي توطئه واوښتې. د همدغو پېښو په ترځ کې د کابل والي علي احمد خان شخصاً په خپله کوه دامن ته ورغی او څېړنه یې پیل کړه. له دې وروسته نورې پېښې د هزاره بهسودو د سیمې یوه مخور خان میر غلام حسن خان په دې توګه بیان کړې: کله چې زه له بهسودو څخه کابل ته راغلم، راته وویل شول، چې د کابل والي د تحقیقاتو لپاره کوه دامن ته تللی دی. له دې لامله چې زما کار ډېر د بیړې و، نو والي پسې هماغته ورغلم. هغه په ډېر ښه وضعیت سره زما روغبړ وکړ او د شپې یې ځان سره ستون کړم (د هزاره وو دغه میر کلونه کلونه د امیر حبیب الله خان په دربار کې د (سراوس) د قطعې یو غړی پاتې شوی و، نو له دې لامله چې په بهسودو کې یې د یوه خان په توګه پوره نوم درلود ، نو د درباري مخورو او په تیره د علي احمدخان د پاملرنې وړ ګرځېدلی و. علي احمد خان د دربار ملکي شاغاسی و. کله چې د شپې ددوی خبرې-اترې پیل شوې خبره د دولت سیاست ته ووته. دا مهال دوه نا آشنا خلك راوستل شول، چې یو یې حبیب الله او بل یې سید حسین وو، دوی ماته وویل، چې تر اوسه پورې مونږ درې ورونه وو، اوس ځلور شولو، خو زمونږ پېنځم ورور (د شاه نور هزاره زوی سیداحمد) له تاسې سره دی، چې باید دعمل په ورځ چمتو وي (د شاه نور زوی هغه نامتو غل و، چې حکومت هغه په غرونو کې نشو نیولای) نو ځکه یې اعلان کړی وه که چېرې په خپله ځان تسلیم کړي، جرم به یې وبخښل شي. هغه په دې اعلان باور وکړ او بهسودو کې میرغلام حسن خان ته راغلی و او له هغه څخه یې ضمانت غوښتی و میر پاچا ته عرض وکړ او پاچا ژمنه وکړه، چې ورباندې کار ونه لري، خو شرط دا دی، چې له میر سره به یو ځای وي او د هغه تر خارنې لاندې به ژوند کوي، بل ځای ته به نه ځي. په دې توګه د شاه نور زوی ومنله او میر سره پاتې شو) میرغلام حسین د والي علي احمدخان دغه توصیه واورېدله، خو په زړه کې یې ونه منله، دا ځکه چې هزاره خلك بالعموم د امانیه دولت پلویان ووا و ددغه دولت د پرځېدو تر پای پورې یې عملاً د هغه ملاتړ وکړ، په دې لړ کې د همدغه میر زوی (فتح محمدخان) هم د سقو د واك ترلاسه کولو په وړاندې مبارزه وکړه، خو هغه مهال په خپله میر غلام حسن خان له نړۍ څخه سترګې پټې کړې وې. میرغلام حسن خان دا هم وویل، چې په دغه شپه باندې والي علي احمد حبیب الله ته امر وکړ، چې له افغانستان څخه انګلیسي هند ته وتښتي او هلته به خپل وطنوال (خواجه بابو خان) سره یو ځای اوسېږي، تر څو چې د کار وخت راشي( داسې هم ویل کېدل، چې خواجه په هند کې د سي آی دي په چوپړ کې و) همدا رنګه والي علي احمدخان دا فیصله وکړه، چې سید حسین به د میمنې ولایت ته ځي او څه موده به هلته وي تر څو چې د عملیاتو وخت راورسېږي، خو په خپله د سقو زوی حبیب الله چې کله پاچا شو یوه شپه په دربار کې حاضرو کسانو ته د ا فغانستان له پولو څخه پورې د خپل سفر کیسه په لنډ ډول داسې بیان کړه: "زه د امان الله له ویرې د خپل ماما له زامنو سکندر او سمندر سره یو ځای پېښور ته ولاړم، او څه

موده مې هلته چای پلورل کول، وروسته بیا (توت ګي) ته ولاړم او د سماوار هټۍ مې پرانیستله او همالته پاتې شوم، تر څو چې افغانستان ته مې د بېرته ستنېدو مهال راورسېد (خو هغه په پاړه چنار کې په غلا باندې د خپل نیول کېدو او بیا د یوولس میاشتې بند د تیرو لو په هکله هېڅ هم ونه ویل). د راتګ پر مهال خپل کلي بریکوټ ته راورسیدم، چې دا د جمعې ورځ وه. جومات ته ولاړم هلته یو ملا له کفر سره د جهاد وعظ کاوه کله، چې د هغه وعظ پای ته ورسېده، زه ورغلم او له هغه څخه مې د خیر دعا وغوښته. ملا ماته دعا وکړه او راته یې ویل، چې له جومات څخه د وتلو پر مهال به په لاره کې یوه ونه په مخ درشي، هغې لاندې څمکه وکینه، هلته چې هر څه په مخه درغلل ځان سره یې واخله. ما په بیړه همدا کار وکړ. هلته مې څلور ټوپکونه، کالتوس او زر روپۍ وموندلې. دا مې ټول راواخیستل او په لاره رهي شوم، کله چې له لغمان څخه د کوه دامن خوا ته راتلم، بیا مې په لاره کې یو ملا ولید. هغه ماته د امان الله په وړاندې د جهاد امر وکړ. د خپلواکۍ د جشن پر مهال په پغمان کې امان الله دننه په تیاتر کې و، بیا له یوه بل ملا سره مخامخ شوم، چې ددین په حکم یې ماته امر وکړ، چې امان الله ووژنم، خو له دې لامله چې د مسلمانانو جشن خراب نشي ما دا کار ونه کړ. کله چې کوه دامن ته را ورسېدم، یوه بل ملا ولیدم او د پغمان د ملا خبره یې بیا راته وکړه، زه تګاو ته ولاړم، هلته تګاوي فرقه مشر (د معین السلطنه ماما) غلام محمد خان او د تګاو صاحب زاده (ملا حمید الله خان) زه ور وغوښتم او ماته یې د امان الله خان د وژلو لارښوودنه وکړه، دوی د پروان یو شمېر خانان هم راوښودل، چې ما سره به مرسته کوي، نو ما د امان الله خان د پرځولو هوډ وکړ او پر کابل مې برید وکړ.

له دې لامله چې د سقو زوی حبیب الله یو بې سواده او له هر ډول دوکې پاك سړی و او کومه سیاسي ملاحظه هم ورسره نه وه، نو ځینې وختونه به یې په شخصي غونډو کې په کابل باندې د برید پر مهال د خپل ټپي کېدو نکل هم کاوه، دا به یې هم ویل، چې څرنګه او چېرته (یعنې د بهرنیانو په کومه ودانۍ کې) یې درملنه وشوه او څرنګه یې ده ته د یوه غازي په توګه درناوی کاوه.

خو سید حسین چې میمنې ته استول شوی و، همالته یې ژوند کاوه او لهه شکمنو ملایانو سره یې راشه درشه وه، تر څو چې په یوه مناسب فرصت کې دغو ملایانو د پاچا امان الله خان په ضد یوه اعلامیه خپره کړه او له دغه ډول پاچا څخه یې د خلکو بیعت رد او شرعاً یې ساقط وباله. وروسته بیا خلیفه قزل ایاق، چې افغانستان ته د نویو یو شمېر راغلیو مهاجرینو مرشد و، هغه هم د هېواد په شمال کې د امانیه دولت په وړاندې د سقا د زوی د اړ-دوړ کوونکي حکومت پلویتوب غوره کړ او د جګړه مارو ډلو د وسلې په زور یې د هغوی د شمالي ولایتونو د حکومت ملاتړ وکړ او د بل هر مخالف ځواك په وړاندې یې د هغوی (سقاویانو) ساتنه وکړه. همداسې هم د افغانستان په ټولو ولایتونو کې پټې ډلې او کړۍ او مخالف ځواکونه د دولت په وړاندې راپاڅېدل. په تیره بیا په کابل کې چې تر ځمکې لاندې پټې منظمې شبکې په کار بوختې وې فعاله شوې، نو کله چې د سقو زوی له هند څخه راستون شو، په کاپیسا او پروان کې یې په داړې اچولو پیل وکړ او له کابل سره یې د شمالي ولایتونو لاره پرې او کابل یې تر ګوابښ لاندې راوست.

Scanned by CamScanner

هغه لومړی ځړک، چې د پروان، کاپیسا او ننګرهار ولایتونو د اړ-دوړ څخه مخکې په کابل کې د اړ-دوړ کوونکي لښکر د ننبې په توګه را څرګند شوی و، هغه پکتیا ته له کابل څخه د یو شمېر لویو روحانیونو تښتېده وه. داسې هم ویل کېدل، چې د کابل یوه منظمه پټه ډله د مجددي حضراتو، یو شمېر لویو سردارانو او نامتو ملایانو وه، چې د دوی په ډله کې د ۱۳۰۷ش. کال په مني (د ۱۹۲۸م. کال په ژمي) کې د حضرت محمد صادق المجددي د ډلې حرکت هم و. نوموړي د شمس المشایخ کوچنی ورور و (مشر شمس المشایخ) هغه نامتو مجاهد و، چې په عین وخت یو وطنپال او غازي شخص او لوی روحاني و، خو دا مهال هغه وفات شوی و، خو د هغه ورور دده پر ځای ناست و او هغه د اماني دولت یو لوی مخالف و، چې په هندوستان کې اوسېده، هغه له پغماني قاضي عبدالرحمن خان، قاضي فضل الحق، پغماني قاضي عبدالقادر خان، عبدالحنان خان او محمد حیان خان (د قاضي عبدالرحمن زامن) ټول سره یو ځای پټ له کابل څخه پکتیا ته ولاړل. په دغه سفر کې محمد الصادق المجددي سره دده ځوان وراره (د شمس المشایخ ۲۲ کلن زوی حضرت محمد معصوم المجددي) هم یو ځای و دا ځکه، چې نه یې غوښتل چې هغه په کابل کې د حکومت تر فشار لاندې راشي. کله، چې دغه ډله پکتیا ته ورسېدله په ځاځیو کې د عزیزخان ځاځي په کور کې دیره شول او خلکو ته یې ویل، چې د پاچا پروګرام د شرٌیعت مخالف او د افغانستان دملت په زیان دی. کله چې مونږ خپلې دغه خبرې پاچا ته وکړې، هغه هېڅ ځواب رانه کړ، نو ځکه مونږ دلته پکتیا ته راغلو تر څو د پکتیا والو په ګډون خپل وړاندیزونه پاچا ته واستوو، او د افغانستان د خرابي مخه ونیسو. خلکو د حضراتو دغه وړاندیز ونه مانه، خو دا یې ورته وویل، چې که چېرې حضرات غواړي چې له افغانستان څخه ووځي، نو دوی به په امن-امان سره د هېواد له پولو تیر کړي، تر څو د دولت لاس ته ور نه شي. دا وخت حضراتو د سلا مشورې یوه غونده جوړه کړه، په دغه غونډه کې قاضي عبدالرحمن وویل: زمونږ مخې ته دوه لارې دي: یا به هند ته تښتو، نو هلته به انګرېزان مونږ په ډېر درنښت سره ومني، خو مونږ چې مسلمان او افغانان یاستو، د پردیو له دغه درنښت څخه راته مرګ ډېر غوره دی، دوهمه لاره د افغانستان حکومت ته تسلیم کېدل دي او له ژوند څخه لاس مینځل دي، آیا نور ملګري څه وایي؟ ټولو وویل مونږ دغه دوهمه خبره که چېرې زمونږ د ژوند په بیه هم وي، غوره بولو. ټول راپاڅېدل او د ځاځیو په کلا کې د دولت نظامي قوماندان (عبدالغني خان سرخابي) ته ورغلل او تسلیم شول. قوماندان دوی په تحت الحفظ بڼه ګردیز ته واستول، تر دې وخت پورې له کابل څخه موټر راغلل او دوی ټول یې مخامخ پغمان ته بوتلل (پاچا په پغمان کې و) د شپې ۱۲ بجې وې، چې پاچا هر یوه سره جلا جلا روغبړ وکړ او خبرې اترې یې ورسره وکړې. وروسته یې دوی ټول د جنګ د وزارت د حرب دیوان ته وسپارل.

د حرب د دیوان د غونډې غړیو (د حربیې وزیر عبدالعزیز خان، د مرکز د قول اردو قومندان محمود سامي، فرقه مشر فضل احمد خان، کنډکمشر سید شریف خان او کنډکمشر سید عبدالله خان) له یوې میاشتې تحقیق او استنطاق څخه وروسته حضرات چې له خپل قول او فعل څخه یې انکار نه و کړی، په اعدام محکوم کړل. وزیر عبدالعزیز خان او کنډکمشر سید شریف خان د اعدام د حکم په تطبیق کولو ډېر

Scanned by CamScanner

ټینګار کاوه. په پای کې قاضي عبدالرحمن خان پغماني او د هغه زوم قاضي فضل الحق خان په یوه ورځ قاضي عبدالقادر خان او د قاضي عبدالرحمن زوی عبدالحنان په بله ورځ د سیاسنګ په سیمه کې په ګولیو وویشتل شول، خو پاچا محمدصادق المجددي او محمد معصوم المجددي د شمس المشایخ ورور او زوی دواړه د شمس المشایخ د غوره خدمتونو په لحاظ له وژلو وژغورل او یواځې یې بندي کړل.

دې پسې وروسته د شینوارو اړ-دوړ پیل شو، چې د ۱۳۰۷ل. (۱۹۲۸م.) کال په ژمي کې یې په پلازمینه باندې د سقو ناځاپي برید پېښ شو. پاچا درې ورځې وروسته محمد صادق مجددي او محمد معصوم مجددي له بند څخه را خوشې او په مینه یې ولورول.

## په ننګرهار کې د اور لومړنی لمبې:
## (د ۱۳۰۷کال لړم – د ۱۹۲۸کال د نومبر ۱۴مه)

په افغانستان کې د اړ-دوړ پر مهال د افغانستان حکومت ددغو کسانو په لاس کې و: د حرب وزیر عبدالعزیز خان بارکزی، حربي مفتش سید شریف خان کونړی، د پلازمینې د قول اردو قوماندان محمود سامي بغدادي، د کورنیو چارو وزیر عبدالاحد خان وردګ (ماهیار)، کابل والي د دربار د وزیر محمد یعقوب خان ورور محمد سیمع خان، د کابل امنیه قوماندان او کوتوال محمداکبرخان ارغندیوال، د تفتیش لوی رئیس سردار شیراحمدخان (چې پخوا د دولت د شورا مشر و) د استخباراتو او ضبط احوالاتو رئیس ګل احمدخان غزنوي (ملکیار) د دربار وزیر فیض محمدزکریا، د معارف وزیر محمدیعقوب خان، د بهرنیو چارو وزیر غلام صدیق خان څرخي، د سوداګرۍ وزیر علي محمدخان، د مالیې وزیر میرهاشم خان، د عدلیې د وزارت معین قاضي عطا محمدخان هروي، د کابل ښاروال احمدعلي خان، ننګرهار والي میرزا محمد سرورخان، د ننګرهار نظامي قوماندان محمدګل مومند، د قطغن او بدخشان والي عظیم الله خان ترجمان، د هرات والي محمدابراهیم خان بارکزی، دهرات نظامي قوماندان عبدالرحمن خان بارکزی، د مزار او بلخ والي عبدالعزیز خان بارکزی، د پکتیا والي عبدالحکیم خان بارکزی، د پروان او کاپیسا لوی حاکم محمدامان خان، د کاپیسا حاکم شیرجان خان صاحبزاده د پکتیا نظامي قوماندان صاحبزاده محمدصدیق خان، د پکتیا د ارکانحرب رئیس طره باز خان (چې وروسته بیا د کابل د کوتوالي قوماندان شو.)

د ۱۳۰۷ل. کال د لړم په میاشت کې (په ۱۹۲۸م. کې) د شینوارو د سنګوخېلو او د یو شمېر تیرېدونکو کوچیانو تر منځ یوه شخړه وشوه، په هغې کې څو تنه سنګوخېل ووژل شول. دوی قاتلین ونیول او سیمه ییز حکومت ته یې وسپارل، خو حکومت قاتلین پرېښودل او چا د سنګوخېلو عرض ته غوږ ونه نیو، هغوی د جلال آباد اعلی حکومت ته راغلل، خو دلته هم چا ورته غوږ ونه نیو، په دې توګه له حکومت سره د شینوارو ضدیت پیل شو، په تیره بیا کله چې یو شمېر نامتو کسانو د دولت د بیعدالتی او کفر په هکله په شینوارو کې تبلیغ پیل کړ او منظم پټ لاسونه په کار ولویدل او د چاودنې لپاره یې لاره هواره

کړه. د لړم د میاشتې تر نولسمې نېټې پورې د دغو پروپاګنډو اغېزه دومره برید پورې ورسېدله، چې آن د شینوارو په "ګهی" کې میشت د عسکري قشلې عسکرو له ناراضه خلکو سره لاس یو کړ او دا یې ومنله، چې که چېرې د خلکو له خوا په قشله برید وشي، نو سرتیري به قشله له مهماتو سره یو ځای خلکو ته تسلیم کړي. له دې بد وضعیت سره سره لا هم اعلی حکومت د پیل په غوږ کې ویده و، کله چې دغه خبر د ننګرهار د پوځ قوماندان محمدګل خان مومند ته را ورسېد، د پوځونو د ګډوډۍ د مخنیوي پر ځای، خپله کابل ته په دې نوم روان شو، چې هلته یو څه کارونه لري او له پلازمینې څخه هدایت اخلي، د فرقې وکیل مخ په شینوارو ولاړ، خو په لاره کې د هغو شینوارو لاس ته ورغی، چې هلته یې کمین ورته نیولی و. هغه مهال په ننګرهار کې یو غونډ او یو کنډک عسکر په جلال آباد کې پراته وو، چې د توپچي او استحکام ټولي یې لرل. دا مهال د شینوارو د اړ-دوړ کوونکو مشري محمد افضل خان شینواري کوله. هغه په بېړه د شینوارو د حکوت په مرکز (اچین) باندې برید وکړ، هلته یې دفتر، محکمه او ښوونځي لوټ کړل او ویې سوځول. ورپسې یې په غني خېلو کې یوه جرګه جوړه کړه او د دولت په ضد یې په یوه پراخه کړنه کې اقدام پیل کړ. محمدافضل خان په خپل دغه لوی اقدام کې، چې له یوه دولت سره یې جګړه پیل کړې وه، په لوارګي کې یعنې د ډیورنډ له کرښې څخه پورې غاړه له میر اکبر خان شینواري څخه الهام اخیست. ورو ورو شینوارو د ګهی په قشله برید وکړ او هغه یې پرته له مقاومت څخه له وسلو او مهماتو سره یو ځای ونیوله. تر دې وخت پورې داسې ښکارېده، چې ګواکې په ټول ننګرهار کې حکومت او نه هم کوم پوځ شته. دې پسې وروسته د ننګرهار نظامي قوماندان محمدګل خان مومند له کابل څخه راستون شو او دنده ورته وسپارل شوه، چې درې غونډه نور هم جوړ کړي، خو هغه لا هېڅ هم نه و کړي، چې د دولت د شورا پخوانی رئیس سردار شیراحمدخان د ننګرهار ولایت تنظیمیه رئیس په توګه جلال آباد ته را ورسېد. دا مهال یو شمېر روحانیون لکه حضرت نقیب د چهارباغ حضرت او د چکنورو ملا صاحب په جلال آباد کې وو. سردار شیراحمدخان یو شمېر د سره رود خلک، د چپرهار خلک، خوږیانیوال او د لغمان خلک جلال آباد ته راوغوښتل او د دولت په ملاتړ یې وسلې ورکړې، په دوی کې یو هم د دولت یو مخالف غلام جیلاني خان چپرهاري و، چې له خپلو درې سوه تنو سره یو ځای یې وسله ترلاسه کړه. ده ته د شا و خوا سیمو امنیت وسپارل شو، په داسې حال کې، چې هغه د دولت له وسلې سره یو ځای د دولت له مخالفینو سره یو ځای شو. ورپسې خوږیانیوالو د حصارک غلجیو هم همدا کار وکړ او د شینوارو اړ-دوړ کوونکو سره یو ځای شول. په دې توګه اړ-دوړ کوونکي ښه پیاوړي شول او په ډکه باندې یې برید وکړ او دولتي سرتیرو ته یې ماتې ورکړه، د ننګرهار ساپیان، چې د دولت ملاتړ ته رارسېدلي وو، د نظامي قوماندان د ډېرې سخت ګیرۍ او د معاش د نه ورکولو له کبله له ښاره ووتل. په دې توګه شینوارو، خوږیانیوالو او د چپرهار خلکو ښار کلابند کړ. دا مهال په جلال آباد کې د شینوارو مشر محمد علم خان شینواری او په خپله شینوارو کې محمد افضل خان و. سردار شیراحمدخان له محمدعلم خان سره د مفاهمې هڅه کوله، دا ځکه چې د اړ-دوړ له پیل څخه یې پاچا ته داسې فکر پیدا کړی و، چې د تورې پر ځای باید د خبرو-اترو له لارې دغه اړ-دوړ غلی

شي. همدوی د ننګرهار دوه اړخیز پاڅون او بیا د کاپیسا او بیا ورپسې د ځاځیو او ځدرانو په پاڅون کې هم مخالفت وکړ. د انګلیس د دولت مختار وزیر "سر فرانسي همفریز" په کابل کې له خپله پاچا سره د نوامبر په ۲۴مه خبرې وکړې او پاچا ته یې د هغو ګواښونو په هکله خبر ورکړ، چې رژیم ته متوجه وو. همفریز پاچا ته په ځرګنده وویل، چې اعلیحضرت ټول خلك د ځان مخالف کړي دي. ملایان سوداګر بزګران او عسکر ټول له نویو ریفورمونو او د مالیاتو له زیاتېدو څخه ناخوښه دي. نو پاچا ته په کار دي، چې په ټول ځواك سره د روغې جوړې له لارې د اړ-دوړ له مخکښانو او شینوارو سره پر منځ ولاړ شي، تر څو اړ-دوړ پراخه نشي. که چېرې مومند هم پاڅېدل، بیا نو یو لوی خطر به مخې ته راشي[1].

د کورنیو او بهرنیو دغه نصیحتونه ددې لامل شول، چې پاچا له ځواك څخه کار وانخیست او د هېواد په هر ګوټ کې د پاڅون کوونکو لپاره لاره پرانیستل شوه او په پای کې د دولت د پرځېدو لامل شوه. په دې توګه هم د ننګرهار او هم د کاپیسا تنظیمیه رئیسانو (سردار شیراحمدخان، والي علي احمدخان او احمدعلي خان) ټولو همدغه ناکامه پالیسي غوره کړه، که نه دولت کولای شول، چې په زور سره دغه کوچنی اړ-دوړ په هماغه پیل کې وځپي او په شینوارو او کوه دامن کې دواړه غلي کړي. په داسې حال کې، چې دولت تر پایه پورې یواځې تدافعي حالت غوره کړی و او آن دا چې خپل هوایي ځواکونه یې هم په کار نه اچول (هغه مهال دولت ۱۱ الوتکې درلودې).

په همدې مهال کې مومندو د دولت ملاتړ کاوه او د شینوارو په وړاندې یې په بري سره جګړه وکړه، نو ځکه محمد علم خان شینواري د جلال آباد د اعلی حاکم له لوري د سولې بلنه ومنله او خبرې اترې پیل شوې. البته یو شمېر پټو لاسونو ډېرې هڅې وکړې، چې د مومندو او د دولت د ځواکونو تر منځ چې دواړه په ګډه لیکو کې د امنیت ساتنه کوله تفرقه واچوي. په دې ترڅ کې سردار شیراحمدخان د شینوارو له خوا په یوویشتو توکو کې یو وړاندیز کابل ته واستاوه، چې په هغه کې د پاچا او ولیعهد لرې کېدل د حاکمانو او کابینې لرې کول او له افغانستان څخه د محمود طرزي ایستل راغلي وو. دې پسې وروسته اړ-دوړ کوونکو په جلال آباد ښار برید وکړ او دغه ښار یې کلابند او د کابل جلال آباد د تیلیفون مزي یې پرې کړل. سردار شیراحمدخان هغه وسله وال خوږیانیوال، چې د دولت پلویان وو له ښار څخه وایستل او په خپله په نظامي چوڼۍ کې ځای پر ځای شو، شړل شوي خوږیانیوال له مخالفینو سره یو ځای شول. اړ-دوړ کوونکو ددغې ماتې په بدل کې له ښار څخه بهر د سراج العماره ودانۍ وسوځوله. په دې وخت کې د بهرنیو چارو وزیر غلام صدیق خان څرخي په الوتکه کې جلال آباد ته راغی او یواځې غني خېلو ته ولاړ، چې د شینوارو د اړ-دوړ کوونکو مرکز و مخامخ یې د اړ-دوړ کوونکو له مشر محمدافضل شینواري سره خبرې پیل کړې، له دې لامله چې دا خبرې پوره صادقانه وې، نو محمدافضل خان وسله کېښوده او له دولت څخه یې خپل ملاتړ وښوده، خو د جلال آباد د اړ-دوړ کوونکو مشر محمد علم خان په خپل مخالف دریځ کې پاتې شو او یو ځل بیا یې پر جلال آباد د برید کولو هوډ وکړ، خو کله چې د ننګرهار د والي له خوا خبر ور ورسېد له جګړې څخه یې لاس واخیست او

---

۱- وګورئ: "افغانستان" کتاب په افغانستان کې د بریتانیا د مختار وزیر لیکنه. د ۱۹۵۰م. کال چاپ، لندن.

Scanned by CamScanner

خبرو-اترو ته راغی. میر سید قاسم خان هم، چې له کابل څخه جلال آباد ته راغلی و، هغه هم د سولې او امن په بهرته ټینګښت او د دولت د پرستیژ د بېرته کلکولو لپاره یې هڅې وکړې، خو ډېر واکونه یې نه لرل، نو ځکه د هغه ډېر فکرونه همداسې پاتې شول. د کونړ شیرپاچا (میر صاحب جان) چې یو مجاهد او وطنپال روحاني و او استعمار ضد نامتو څېره وه کولای شول، چې د دولت په پلویتوب په ډېره آسانی او لږ وخت کې دغه اړ-دوړ غلی کړي، خو هغه یې لا د مخه په پاچا باندې د توطئې په تور بندي کړی و. سره له دې چې پاچا هغه د اړ-دوړ په تودو شیبو کې د ارګ له جیل څخه را پرېښود او ننګرهار ته یې راواستاو، خو هغه د رارسېدو په لومړۍ شپه یو ناڅاپه مړ شو، نو ځکه دغه هڅه هم ناکامه شوه. کابل یو بل پوځ د لینډۍ د میاشتې په نهمه د محمود خان یاور په مشرۍ (او د نورستاني نایب سالار عبدالوکیل خان په سالاري جلال آباد ته راواستاوه، په دې توګه پلازمینه د پوځ له شتون څخه تشه شوه. رالېږل شوی پوځ د لینډۍ په لسمه نمګلې ته راورسېد. یاور محمود خان ددې پر ځای، چې جلال آباد ته ورشي هلته یې له غلجیو سره خبرې پیل کړې. دغه خبرې-اترې دومره اوږدې شوې، چې خوږیانیو بریدونه شروع کړل. د دواړو خواوو تر منځ جګړه د لینډۍ تر نولسمې پورې روانه وه. په دې موده کې ډېرو پټو لاسونو پټ کار وکړ او د دولت سرتیري مخالفینو ته تسلیم او په خپله یاور او نایب سالار ونیول شول. د دولت وسله او نظامي مهمات ټول دغلجیو او خوږیانیوالو لاس ته ورغلل، په دې توګه د اړ-دوړ کوونکو ملا کلکه شوه او مخ په جلال آباد راغلل، خو دلته مومندو د دولت خوا نیولې وه، نو ځکه اړ-دوړ کوونکو څه ونه شو کولای، خو دربار چې د مخالفینو تر کلکې اغېزې لاندې له سده وتلی و او په قهري توګه د پروپاګنډ تر اغېزې لاندې راغلی و یوه بله لوبه پیل کړه. په خپله پاچا والي علي احمدخان (د وزیرانو مجلس کې درایي له نه ورکولو سره) د ننګرهار د تنظیمیه رئیس په توګه ننګرهار ته واستاوه او د کابل پاتې قوتونه یې هم ورسره کړل. علي احمد خان له جګدلګ څخه په یوځیتوب سره د خوږیانیو هاشم خېلو ته ورسېد. هلته یې یوه جرګه جوړه کړه، وروسته تر خبرو-اترو یې د یوې بلې لویې جرګې په نوم د خوږیانو، شینوارو او نور قومونو یو شمېر مشران له ځان سره جلال آباد ته بوتلل او هلته د نقیب صاحب کور ته ورغلل، هغه یو بل کار چې والي احمدخان وکړ دا و، چې د دولت ملاتړي مومند ځواکونه یې په هر بېه له جلال آباد څخه وکښل او هره خوا یې خواره واره کړل او د هغوی پر ځای یې مخالف شینواري په جلال آباد کې ځای پر ځای کړل، خو بیا هم په ننګرهار کې حکومت څه نا څه موجود و. د اړ-دوړ خبره اوږده شوه. د اړ-دوړ طراحانو وپتیله، چې د دولت د ببخي پرځولو په خاطر به ورانکاري د پلازمینې له څنګ څخه پیل کړي. هلته لاره لا د مخه هواره شوې وه. دا وخت د سقاو زوی له خپلو وسله والو ډلو سره په ټول پروان او په کاپیسا کې په کار لګیا و.

Scanned by CamScanner

## د سقو د زوی پاځون او د دولت پرځېدل:
## (د ۱۳۰۷ لیندۍ او مرغومې – د ۲۸ – ۱۹۲۹ دسمبر او جنوري)

کله چې د سقو زوی د ډیورنډ له کرښې پورې غاړه په پاړه چنار کې د غلا په تور په یوولسو میاشتو بند محکوم شو، یو ناڅاپه په ناڅرګند ډول راخوشې او بېرته افغانستان ته راستون شو. کله چې افغانستان په ختیځ کې د اړ-دوړ پیلامه روانه وه د سقو زوی هم په پروان او کاپیسا کې د غلو یو ډل برابره کړه او د لارو په وهلو او غلا یې پیل وکړ. هغه به د شپې غلا کوله او د ورځې به غرونو ته خوت د سیمې یو شمېر مخورو لکه ملك محسن کلکاني او نورو ورسره پټه مرسته کوله. په دې توګه د سیمې پولیسو ته د هغه نیول ګران و. دهغه د فعالیت ساحه دومره پراخه شوه، چې آن که کومه شپه به که چېرې کوم کور ته ورغی، د کوم خاوند به د خپل ځان له ویرې هغه ته او د هغه ډلې خواړه ورکول او حکومت ته یې له ډاره خبر نشو ورکولای. هغه دومره زړور شو، چې یو وخت له مزار څخه کابل ته یوه اندازه خزانه راوړل کېده. کله چې د سقو زوی واورېدل، لاره یې ورته ونیوله او پیسې یې وتښتولې. په دې ورځو د سیمې د پولیسو هڅو کومه پایله نه درلوده. د لړم د میاشتې په پای کې، چې د شینوارو اړ-دوړ بشپړ مخ تللې و او د دولت ټول پام ختیځ ته اړولی و، د سقو زوی له کابل سره د هېواد د شمالي ولایتونو د لارې د پرې کولو په خاطر لاس په کار شو او د شا و خوا لارو امنیت یې خراب کړ. د حربیې وزارت د لارو د ستلو په خاطر او له شمالي ولایتونو سره د نظامي اړیکو د ساتلو په موخه یوه کوچنۍ قطعه سرتیري واستول، خو د سقو زوی چې څومره وپلټل شو په لاس ورنغی، په لیندۍ میاشت کې چې کله په ننګرهار کې د اړ-دوړ لمبې ډېرې اوچتې وې، د سیمې حکومت، ملك محسن کلکاني او څو نور کسان له سقو سره د پټې مرستې په تور بندیان او کابل ته یې راوستل، دې پسې دولت د کابل نساروال احمد علي خان د کاپیسا او پروان د تنظیمیه رئیس په توګه له پوره واك سره هلته واستاوه، تر څو دولت له دې لورې ډاډه او په ننګرهار کې د اړ-دوړ اور مړ کړي.

احمد علي خان په پروان او کاپیسا کې د دولت هماغه ژمن شوی چلند یعنې له غلو او داړه مارو سره د خبرو-اترو لړۍ وغځوله. هغه له سرای خواجه څخه جبل السراج ته ولاړ او له هغه ځای څخه یې دولت ته خبر ورکړ، چې د خلکو د خوښې په خاطر باندې ملك محسن خان او نور هغه کسان، چې د سقو له زوی سره د مرستې په تور نیول شوي دي، بېرته راخوشې شي. له دې څخه وروسته یې یوه جرګه جوړه کړه او د کاپیسا او پروان له مخورو سره خبرو ته کېناست. دغې جرګې داسې پرېکړې وکړې: د سقو له زوی سره باید خبرې وشي، یعنې دولت باید له یوه غله سره مذاکرات پیل کړي او د جرګې ګډونوالو دا ومنله، چې دولت به د سیمه ییزو ځواکونو د راجلبولو په برخه کې واخلي او په دې پسې یې یو شمېر جلبي سرتیري کابل ته واستول. د سقو زوی، چې د حکومت ضعف ولید، خبرو-اترو ته یې وخت ورنه کړ او خپلو ورانکاریو ته یې زور ورکړ او هغه څو تنه سرتیري یې چې کابل ته تلل هغه یې په لاره کې په یوه ناڅاپي برید کې ووژل.

احمد علي خان په ټیلیفون کې دغه خبره له کابل سره وکړه او له مرکز څخه یې دا واك ترلاسه کړ، چې په

Scanned by CamScanner

هر ډول چې کېږي باید د سقو له زوی سره مفاهمه وکړي. د باغ عارق سیمه د خبرو-اترو لپاره وټاکل شوه، یعنې یو غل چې په غرو کې پټ و، دا دی اوس یې د یوه تنظیمیه رئیس سره برابر دریځ ترلاسه کړ. رئیس یواځې له خپلو دوه تنه سره د سقاو زوی ته ورغی او د خبرو په پای کې یې له حبیب الله او سید حسن سره یوه ژمنه او هغه هم د قرآن شریف په څنډه کې لاسلیك کړه. په دغه ژمنه کې د سقو زوی ومنله، چې له دولت سره به مخالفت او شرارت څخه لاس اخلي. ددې په وړاندې دولت هم ژمنه وکړه، چې د سقو د زوی او د هغه د ملګرو جرمونه به وبخښي احمدعلي خان له ملنډو ډکې دغې ژمنې سره یو ځای چې هېڅ سابقه یې نه لرله د سقو زوی او سیدحسن له ځان سره سرای خواجه ته راوستل. د حرب وزیر ته یې خبر ورکړ، چې ۸۲ ټوپك کالتوس او د غونډ مشری رتبه او معاش هم د سقو زوی او هم سید حسین ته ورکړي. پاچا د حربیه د وزیر د مالیې وزیر او تنظیمیه رئیس احمدعلي خان په نوموړو فرمانونه صادر کړل او له غلو سره یې د احمدعلي خان ژمنه تصدیق کړه او د ۳۰۳ ډوله ۸۲ جاغور لرونکو ټوپکونو او ۱۲۴۰ ګډه کالتوس ورکړه او د کال درې زره افغانیو معاش ورکول یې هم ددغو غلو ته ومنل. له دې پرته د غلو د ډلې هر یوه ته یې د کال ۳۲۰ افغانۍ معاش حواله کړ[1].

له دې وروسته رئیس احمدعلي د سقو د زوی د پیاوړي کولو فیصله وکړه او د لیندۍ په ۱۸مه نېټه "د چارود سمبالولو" په نامه تګاو ته روان شو او هلته یې هم یوه دروغجنه جرګه جوړه کړه. د لیندۍ په شلمه څو زره تنه خلك او یو شمېر ملایان د سیمې حکومت ته راغلل او اعلان یې وکړ، چې له خپلو هېوادوالو ورونو سره به د حکومت په پلوي جګړه نه کوي او دا یې هم وویل، چې د حکومت له ټې دینۍ څخه کرکه لري. له هغه څخه وروسته احمدعلي خان د تګاو له اخندزاده ملا حمیدالله خان سره یوه خصوصي کتنه وکړه. ښکاره خبره ده، چې اخندزاده صاحب هم د دولت مخالف شو. په همدې نېټه یو شمېر خانان او غله سره یو ځای شول او د کلکان د ملا ویس الدین په کلا کې سره راټول شول او د شپې له خوا یې یوه غونډه جوړه کړه. په دې کې یې د سقو زوی دافغانستان د پاچا په توګه وپېژاند او یو پټکی یې له ملا څخه ور وتاړه. په دې توګه ددغې ناولې ډرامې او لویې کرکجنې توطئې وروستۍ پرده ننداریې ته وړاندې شوه.

په هغه سبا د لیندۍ په یوویشتمه د سقاو زوی د سیمه ییز حکومت په مرکز (سرای خواجه) باندې برید وکړ. حکومت یې لوټ او ساتونکي یې بې وسلې کړل او د پلازمینې په لور د برید کولو لپاره راوخوځېدل او سید حسین یې د چاریکارو او جبل السراج د نیولو لپاره واستاوه په جبل السراج کې یو غونډ (۹۰۰ تنه) سرتیري وو او د تنظیمیه رئیس احمدعلي خان امر ته سترګې په لار وو. سید حسین په هماغه ورځ باندې د چاریکارو ښارچي بې دفاع یې پرېښی و ونیو، وروپسې یې د دسمبر په لسمه نېټه جبل السراج د دولتي عسکرو له مقاومت څخه پرته ونیو. په کابل کې د حربیې وزارت ایله یوه ورځ وروسته له دې پېښې څخه خبر شو، په داسې حال کې د سقو زوی له خپلو ۳۰۰ تنو وسله والو سره مخ په کابل را روان وو.

---

۱. غلام محی الدین خان انیس افغاني د هر کړه لیکوال دغه پېښې او فرمانونه په خپل کتاب کې (بحران و نجات) کې لیکلي دي.

Scanned by CamScanner

د همدغې ورځې په ماسپښین (د لیندۍ ۲۲مه) د حربیې وزارت ته خبر را ورسېد، چې د سقوزوی کابل ته رانږدې شوی دی. له دې لامله چې کابل یې لا د مخه له منظمو سرتیرو څخه تش کړی و. نوله ارګ ورځې په خپله حبیب الله خان د حربیې وزارت مرستیال (معین) له یو کم شمېر سرتیرو سره مخ په شمال روان شو او یوه ډله پولیس د آسمایي غره ډډې ته وختل او د شاهي ګارد ټولي مخ په کلوله پشته ورغلل، خو دا مهال د سقو زوی د کابل د شهر آرا سرك ته را رسېدلی و، مخامخ یې شاهي ارګ په نښه کړی و، خو ۱۸ تنو د سپرلۍ د روزنې زده کوونکو، چې د شهر آرا بڼ ته نږدې و د سقو د زوی د چټك پرمختګ مخه ونیوله او د ټوپکو ډزو د جګړې اعلان وکړ. دې پسې وروسته محمدعلي خان د ارګ له څو تنو سرتېرو سره پلي مخ په شهر آرا منډې کړې، هغه پسې وروسته د حربیې وزیر عبدالعزیز خان ددغه وزارت له چارواکو سره یو ځای را ورسېدل او تر ماښام پورې یې برید کوونکي د شهر آرا شاته وځغلول، سره له دې چې مدافع ځواکونه له اتیا تنو څخه زیات نه وو. د لیندۍ په ۲۳مه سهار باندې د شهر ارا پر سرك باندې د سقو بیا ځلې برید پیل شو دا، ځکه چې هغه ته د شا له لورې مرسته رارسېدلې وه، شاهي ګارد دغه برید په کلکه شنډ کړ. د سقو زوی اړ شو، چې د شهر آرا درې پوړیز ځلې ته ننوځي او د بڼه ځلی (برج) په ټوله شا و خوا سیمه یوه حاکمه نقطه وه، د سقو زوی او د هغه ملګرو ددغه ځلي څخه د هر ډول برید دفاع په آسانۍ سره کولای شوه. دا مهال د جبهې له شا څخه دولتي توپونو ډزې پیل کړې، په دې توګه دغه برج ولړزېد، د سقو زوی په بیړه وتښتید، هلته یې د "نه برجه" په سیمه کې یو ځل بیا مورچل جوړ کړ، خو د حربیې وزارت د هغه د تعقیب کولو او په هغه باندې د برید کولو کفایت او قوت نه درلود. په دې توګه تیت او پرك جګړې له لرې څخه دوام وموند. د ښوونځیو زده کوونکي پرته له رسمي اجازې څخه د جګړې کرښو ته ننوتل او د دولت یوه اکتشافي الوتکه له یوې ونې سره ولګېده او اوړ یې واخیست. د کابل شا و خوا غرونو کې چې څه سرتیري ځای پر ځای شوي وو، ټول له غرض څخه د ډکو پروپاګندو تر اغېزې لاندې راغلي وو، خو دولت د دښمن د پروپاګند په وړاندې دفاعي تبلیغ هېر کړی و. دښمن څه، چې غوښتل هغه یې په بیړه او آسانه توګه د خلکو او سرتیرو په ذهن کې ور اچول. د دولت د سنګرونو له شا څخه هم ډزې کېدې. له دغو معلوموډزو څخه داسې ښکارېده، چې د دولت په لیکو کې هم له غرض څخه ډك لاسونه لګیا دي او خیانت پیل شوی و. د سقو زوی له کافر کوه، نه برجه او بربڼ (باغ بالا) څخه نیولې د خیرخانې تر غاښې پورې سنګرونه جوړ کړل او وار په وار پیاوړي شو. په داسې حال کې، چې دولت په شهر آرا، قلعه بلند او کلوله پشته او شیرپور کې صرف دفاعي حالت غوره کړی و. د غرونو په سرونو باندې د احمدزیو، منګلو او نورو قومونو نامنظم سرتیري پراته وو، خو دوی یوازې ننداره کوله او په دې فکر کې نه وو، چې له دولت څخه باید په کلکه دفاع وشي. د بېلګې په توګه میرغوث الدین خان احمدزي، چې د دولت په وسله او پیسو په محاذ کې پروت و، کله چې ورته موقع برابره شوه له خپلې ټولې قطعې سره پکتیا ته وتښتید، هلته د اعلی حاکم عبدالحکیم خان او نظامي قوماندان صاحبزاده محمدصدیق خان له خوا کلابند شو.

افغاني افسرانو پاچا ته له لرې ویشتونکو توپونو او الوتکو څخه د کار اخیستو وړاندیز وکړ، خو پاچا

ونه منله او ويې ويل، چې دغه وسله د افغانستان د دښمن لپاره ده، نه د افغانستان د ملت لپاره. لویو مامورينو ټینګار وکړ تر څو چې اجازه ورکړل شوه، نورو داو طلبانو ته هم د ارګ له وسله تون څخه وسلې ورکړل شوې. دې پسې د لویو توپونو غږونه پورته شول او الوتکې پورته شوې، د سقو زوی د شیرپور د غونډۍ شاته د دولت د توپونو تر اور لاندې د شرنپل په یوه چره باندې تپې شو، چې له هغه ځایه یوه نامعلوم ځای ته بوتلل شو او ډېر ژر يې درملنه وشوه، خو جګړه خوره وره روانه وه او کومه پریکنده پایله يې نه وه، په دې توګه یوه اونۍ تیره شوه. ددغې اونۍ په ترڅ کې پاچا د لیندۍ په ۲۲مه نېټه له ارګ څخه ووت او د کابل په عمومي باغ کې يې یوه وینا وکړه او له خپل لوري څخه يې د هېواد د ترقۍ او د اړ-دوړ د زیانونو او د دفاع د اړتیا په هکله خبرې وکړې، خلکو د دولت له مامورينو څخه د شکایت غږ پورته کړ او یوه وویل: ستاسې د دربار وزیر (محمد یعقوب خان) په شان یو شمېر لوړ پوړي ددې خلله ګرځي، چې د خلکو غږ تاسې ته در ورسېږي. په هغه سبا (د لیندۍ په ۲۷مه) د انګرېزانو یوه الوتکه پرته د دولت له اجازې څخه د افغانستان فضا ته راننوته او په کابل کې يې د انګلیس د حکومت اعلامیه په لاندې متن سره وشیندله.

'د افغانستان دینداره، زړور او دوست ملته! تاسې ښه پوهېږئ، چې بریتانیا له ډېر پخوا څخه ستاسې دوست او ښیګڼه غوښتونکی دی او د افغانستان او د ملت ښه ورځ غواړي او د ترقۍ او خوشحالۍ هیله يې لري او د افغانستان خیر په دې کې ګوري، چې دواړه اړخونو ښیګڼه په دې کې ګوري. بریتانیا هیڅ داسې اراده نه لري، چې تر هغو چې په کابل کې د بریتانیا سفارت او په جلال آباد کې او کندهار کې يې قونسلګري په امن کې وي او درناوی ورته وي لکه هغسې چې اسلامي دروند قانون او معتبرو احادیثو ویلي او نړیوال دود کې راغلي، ستاسې په کورني اړ-دوړ کې کوم کار نه لري، خو که چېرې د بریتانیا د سفارت او قونسلګرۍ ودانیو یا مامورينو باندې ستاسې د ملت د غړو له خوا تیري وشي، درته وایو چې په دې صورت کې به د بریتانیا حکومت د سفارت او قونسلګریو د مال او مامورينو ته د زیان ډېر بشپړ انتقام واخلي.'

دا وخت د یو تن غلام حسین نومي په لاس د قلعه قاضي لاره بنده او یو پول هم ونړول شو، حکومت په بېړه غلام حسین ونیو او اعدام يې کړ. ددې په عوض کې د سقاو د زوی یو شمېر اړ-دوړ کوونکو ملګرو د پغمان سیمه ییز حکومت د یوه برید په ترڅ کې ونیو. د مرغومي په دوهمه (د دسمبر په ۲۳مه) نېټه یوه انګلیسي الوتکه راغله او له سفارت څخه يې انګلیسي او هندي ښځې هند ته بوتلې او د دسمبر په ۲۴مه يې په دولسو الوتکو کې ټولې بهرنۍ ښځې هند ته بوتلې په دغه ورځ دولت له یوې خوا د منظمو سرتیرو د یوه کوچني کنډک په پیاوړي توپچي سره یو کلک برید وکړ او د سقو زوی له خپلې ډلې سره یو ځای له ماتې سره مخامخ شو او وتښتېدل هغوی د شپې په تیاره کې د خیرخانې له غاښې واوښتل. په دې توګه په یوه ورځ کې (د دسمبر په ۲۵ مه) د دښمن ټول سنګرونه د دولت د سرتیرو لاس ته ورغلل او په کابل کې د خوشحالۍ غږونه اوچت شول، آن دا چې پاچا د هغې بیړۍ له لامله پښېمانه شو، چې خپله کورنۍ يې په الوتکه کې کندهار ته استولې وه. دا وخت څه نا څه دولس زره سرتیري په

منظم او نا منظم ډول د خیرخانې د غابنې په اوږدو کې او په نورو سیمو کې ځای پر ځای شول او د کاپیسا او پروان د بشپړه نیولو احتمال اټکل شو، خو د ادارې او سوق کوم عالي او همغږی مرکز نه و او له بلې خوا د دولت په دستګاه کې دننه هم پټ لاسونه لګیا وو. دغو لاملونو د پاچا له لاس ځخه دغه قیمتي وخت وایست او په ټولو جبهاتو کې د انتظار حالت راغی او قوتونه د مدافعې حالت کې پاتې شول او د وړاندې تګ امر ورنه کړل شو.

د مرغومي په نهمه (د دسمبر په ۳۰مه) د سقو د زوی د یو کلک پلوي (غونډ مشر عبدالرحیم خان په قوماندانۍ له بلخ ځخه یوه عسکري قطعه له یو میلیون او اووه سوه زرو افغانیو سره را ورسېدل، خو تر هغه وخته پورې ناپېیلی پاتې شوه تر څو چې امانیه دولت وپرځېده بیا نو د سقو له زوی سره یو ځای شوه او هغه ته یې مهم خدمتونه ترسره کړل. د مرغومي په لسمه نېټه د پغمان خلکو پاڅون وکړ او د سقو دزوی حاکم یې ونیو او حکومت ته یې وسپاره. د مرغومې په پېنځلسمه (د ۱۹۲۹م. کال د جنورې په پېنځمه) له لوګر ځخه یو شمېر داو طلبان د دولت مرستې ته را ورسېدل، خو بیا هم د جګړې سنګر د سقو د زوی په ګټه سوړ پاتې شو. د مرغومې په شپاړسمه د ننګرهار د جرګې هغه وړاندیزرا ورسېد، چې د هغه ځای اړ- دوړ کوونکو غوښتنه یې ځرګندوله، همداسې هم د ریفورم په ضد دکندهار د ملایانو له خوا یووړاندیز را ورسېد. ددې په وړاندې پاچا په ۱۸ تو کو کې د ریفورم د تعدیل په هکله یوه اعلامیه طبع او خپره کړه او په دغې اعلامیې کې یې ژمنه وکړه، چې د مشرانو یوه جرګه به جوړه او مدعي العموم به مقرر شي، افغاني نجونې محصلانې به له ترکیې ځخه بېرته راستنې شي، دیوبندي ملایانو ته به اجازه ورکړل شي، چې افغانستان ته راشي، د بډو اخیستو مخه به ونیول شي، ښځې به خپل مخونه او لاسونه پټوي او خپل ویښتان به نه لنډوي، د ملایانو په تدریس کې به شهادتنامه نه غوښتل کېږي، د نفوسو تذکرې ویش بند شو. شراب ښښلو ته سزا وټاکل شوه، په هره حکومتي کې به یو ملا د محتسب په توګه مقررشي، رخصتي د پنجشنبې له ورځې ځخه د جمعې ورځې ته بدلېږي، ښځې به اروپایي جامې نه اغوندي او بورقه به په سر کوي. نظامیان مرید کېدای شي او ځان ته مرشد غوره کولای شي، د میرمنو ټولنه او د نجونو ښوونځی د وکیلانو او د مشرانو د جرګې تر جوړېدو پورې تړل کېږي، د پور اخیستل آزاد دي او د جامو په اغوستلو کې کوم قیود نشته. دغو تعدیلاتو او د ریفورم تبدیلولو د خلکو له بنسټیزو غوښتنو سره کوم تړاو نه درلود. دا ځکه چې خلکو اداري عدالت، د کرنې او اوبو لګولو اصلاحاتو او دې ته ورته نورو اصلاحاتو ته اړتیا لرله، حال دا چې دغې اعلامیې د فیوډالانو او ملایانو غوښتنې ته ځواب وایه. د مشرانو جرګه جوړېدله او ملا او محتسب پرته له شهادتنامې په ټولنیزو چارو کې اغېزمن رول درلو، نو په دې توګه ملا او فیوډال هم چې یو ارتجاعي او ملوك الطوایفي حکومت غوښت، په دغې اعلامیې یې قناعت ونه کړ او اړ-دوړ همداسې جاري پاتې شو، پاچا او د هغه مامورینو پرته له کوم ځرګند دلیل ځخه د قلعه مراد بېګ (چې د سقو دزوی لوی مرکز و) له ویشتلو مخنیوی وکړ، او جګړه په یوه نا اعلان شوی اوربند بدل شو د مرغومي په ۲۳مه شپه (د جنورې ۱۳مه) باندې کله، چې د غرونو او غونډو پر سرونو باندې د ژمي خړه خوره وه، دښمن په

دغې خرې کې د خیرخانې د غاښې د قراولانو تر خیمو پورې رانږدې شو. دا مهال د کابل ښار له ناڅرګندو سیمو څخه د دولت د جبهې تر شا د توپکو ډزې واورېدل شوې، چې هم یې ښاریان وترهول او هم د دولت سرتیري وویرېدل. دغه پروپاګند په ټوله جبهه کې خپور شو، چې د شینوارو او ننګرهار اړ-دوړ کوونکو پلازمینه ونیوله، نو سرتیرو د خیرخانې په جبهه کې مقاومت بې ګټې وباله او دده کیپك تر کلي پورې را په شا شول، حال دا چې دغه ټول پروپاګندونه غلط و، په دې توګه د سقو دزوی بریدونو ته یو ځل بیا لاره هواره شوه.

د همدغې شپې په سبا (د مرغومي په ۲۴ مه- د ۱۹۲۹م. کال د جنوري په ۱۴مه) پاچا امان الله خان د خپلې کورنۍ له یو شمېر غړو او یو شمېر نورو سره په موټر کې کښېناست او پلازمېنه یې پرېښوده او کندهار ته روان شوی و، خو د هغه په تګ هېڅوك هم نه و خبر شوي. امان الله خان له غرمې مخکې په نهو بجو وتلی و او په لسو بجو د یوه رسمي اعلان له مخې په دلکشا ماڼۍ کې مامورین او افسران راټول شول، پرته له دې چې پوه شي، ټول د تیارسۍ په حالت کې ولاړ پاتې وو، وروسته تر څه ځنډ څخه د پاچا مشر ورور سردار عنایت الله خان (معین السلطنه) د پاچا له سرمنشي سره یو ځای غونډې ته راغی او په یوه غلي او سړه فضا کې په خواشینوونکي بڼه، چې د ویر او د ماتم د ورځې په شان وه، د پاچا امان الله خان په لاسلیك یې یوه پاڼه ولوسته. په هغې کې راغلي وو، چې: د هېواد خیر په دې کې دی، چې باید له کار څخه لاس واخلم، دا ځکه ټولې هغه وینې توییدنې او انقلابونه، چې په هېواد کې روان دي، له ما سره د برخلافۍ له کبله وي. پاچا په دغه پاڼه کې خپله استعفا څرګنده او د سلطنت چارې یې خپل ورور سردار عنایت الله خان ته ور پرېښې وې، نو ځکه حاضرینو په بیعت ورکولو پیل وکړ.

## پاچا عنایت الله خان (د ۱۹۲۹ کال د جنوري له ۱۴– ۱۶)

نوی پاچا، چې یوازې درې ورځې او هغه هم د کابل په ښار او هغه هم د ارګ دننه پاچا و، چارې ترلاسه کړې. هغه د پاچا کېدو د لومړۍ ورځې په ماسپښین د څو تنو مخورو او سردارانو لکه سردار محمدعثمان خان او صادق المجددي او نورو په ګډون یو پلاوی د سقو زوی ته واستاوه او د پاچا امان الله له استعفا او د خپل سلطنت په هکله یې خبر ورکړ او له هغه څخه یې هیله وکړه، چې جګړه پرېږدي. دغه پلاوی مخکې تر دې، چې د سقو زوی پورې ور ورسېږي، لومړی یې هغو پاتې ځواکونو ته د سلطنت د بدلیدو مبارکي وویله، چې دده کیپك په محاذ کې وو. هغوی ته یې دا هم وویل، چې نور نو جګړې ته اړتیا نشته، نو ځکه سرتیري ټول مخ په کابل را په شا شول، تر ماښام پورې ټول کابل ته را ورسېدل او سره تیت او پرك شول، خو اړ-دوړ کوونکو پلاوی پرې نښود، چې د دوی له کرښو څخه ورتیر شي، نو ځکه دغه پلاوي شپه په ده کیپك کلي کې تیره کړه او په هغه سبا بر بڼ (باغ بالا) کې د سقو زوی ته ورغلل او هغه ته یې بیعت وکړ. اړ-دوړ کوونکو چې لاړې پرانیستې ولیدې په بیړه ښار ته ننوتل، لوړې سیمې یې ونیولې او شاهي ارګ یې کلابند کړ، سره له دې چې دوه زره سرتیرو توپ او

توپك لرل او کلابند کوونکو خواکونو ته يې ځواب وايه ، خو کابل ښار نيول شوی و او ار-دوړ کوونکو په ټول ښار کې د سقا د زوی امارت؟ د "امير غازي حبيب الله خادم دين رسول الله" په عنوان سره په لوړ غږ په هر ځای کې اعلان کړی و. دغه (خادم دين) لا په باغ بالا کې و ، چې ورور يې حميدالله د کابل امنيه قوماندانی ته راغلی و ، سيد حسين خان هم کابل ښار له ګډوډۍ څخه ساته، چې په سبا باندې يې (د جنوري په پنځلسمه) د سقو زوی کابل ته راغی او په (باغ مهمانخانه) کې ديره شو او په سرتيرو يې د ټولو بهرنيو هېوادونو د سفارتونو د ساتنې امر وکړ. د کابل د ښار امنيت يې په يوه ټينګ د سپلين سره وساته، يوائې يو هوايي افسر ووژل شو ، دا ځکه د تيرېدو پر مهال يې له هغه څخه دده تومانچه غوښتله، خو هغه نه ورکوله او د سقو د زوی دوه سپاهيان يې وويشتل، چې وروسته په خپله دی هم د کابل په چوك کې ووژل شو. حبيب الله په همدغه ورځ په باغ مهمانه کې د يو شمېر خلکو په وړاندې خپله کړنلاره په شفاهي توګه اعلان او ويې ويل:

ما د پخواني حکومت د بې دينۍ او لاتې ګرۍ وضعيت وليد ، نو د دين خدمت ته مې ملا وتړله او تاسې مې له کفر او لاتي ګرۍ څخه خلاص کړئ، راتلونکي که به زه د بيت المال پيسې د ودانيو او ښوونځيو په جوړولو نه لګوم، بلکې هغه به سرتيرو او ملايانو ته ورکوم، چې دعا وکړي، ماليات او د ګمرك عوايد نه راټولوم، تاسې زما رعيت ياست، ځئ او په خوشحالۍ وخت تير کړئ.

د جنوري په شپاړسمه ورځ د صادق المجددي او سردار محمدعثمان خان په واسطه د سقو د زوی او د ارګ تر منځ د يوې مفاهمې په پايله کې د دواړو خواوو تر منځ په قرآن شريف باندې يو تړون لاسليك شو ، چې د هغه له مخې به ارګ حبيب الله ته تسليم شي، په دې شرط چې د ارګ د اوسېدونکو او سرتيرو ژوند به د ډاډمن وي او آزاد به پرېښودل شي او عنايت الله خان به د انګليسي الوتکو په واسطه له افغانستان څخه وځي. دا په داسې حال کې، چې لا د مخه صادق المجددي د بريتانيا له سفير څخه د شاهي کورنۍ د ساتنې غوښتنه کړې وه او ددې ضمانت يې هم کړی و ، چې د انګرېزانو په الوتکو باندې به له هېڅ لوري څخه ډزې ونشي[1]. په دې توګه د جنوري په ۱۷مه دوه انګليسي الوتکې کابل ته راورسېدې او سردار عنايت الله خان له خپلې کورنۍ سره مخ په پېښور والوت. له غرمې وروسته په دوه نيمو بجو د ارګ دروازې د ار-دوړ کوونکو پر مخ پرانيستل شوې.

## د سقاو د زوی حکومت (د ۱۹۲۹ جنوري –اکتوبر)

حبيب الله ارګ ته ننوت او وروسته تر څو ورځو يې خپله کابينه په لاندې توګه جوړه کړه:

سيدحسين د جنګ وزير او نايب السلطنه (وروسته بيا د جنګ د وزارت معين محفوظ خان وټاکل شو، چې د هندي حکيم احمدجان خان زوی و)

معين السلطنه حميدالله (د حبيب الله ورور)

---

۱- وګورئ د افغانستان نومې کتاب په کابل کې د بريتانيا د سفير فريزرتتلر تاليف. د لندن چاپ

Scanned by CamScanner

د کورنیو چارو وزیر عبدالغفورخان تګاوی و (وروسته بیا حبیب الله په هغه باندې شکمن شو او مړ یې کړ.)

د بهرنیو چارو وزیر صاحبزاده عطاءالحق خان و.

د دربار وزیر صاحبزاده شیرجان خان و.

د مالیې د وزارت وکیل میرزا غلام مجتبی خان و.

په افغانستان کې د حبیب الله د حکومت نامتو مامورین دا وو: د کابل والي ملك محسن کلکاني، د ارګ قلعه بیګي عبدالغني، سرمنشي د مستوفي الممالك میرزا محمد حسین خان ورور میرزا محمدیوسف خان، د کابل ګمرك رئیس صاحبزاده عبدالغفورخان، کابل مستوفي میرزا عبدالقیوم خان، د کابل امنیه قوماندان سید آغا خان خواجه چاشتي او د کابل د حبیب الله الاسلام د جریدې مدیر ملا برهان الدین خان کشککي. د حبیب الله درباریان دا وو: د امیر حبیب الله خان زوی سردار محمدکبیر خان سراج، د اعتماد الدوله صدراعظم زوی سردار محمدحیدرخان اعتمادي او پخواني نایب سالار محمود سامي، همدا رنګه په ولایتونو کې د حبیب الله نامتو لوی، مامورین دا وو: د قطغن او بدخشان والي میر بابا صاحب خان او بیا وروسته صاحبزاده عبدالله خان، د مزار او بلخ والي میرزا محمدقاسم خان او بیا وروسته باز محمدخان، د بلخ دولایت مستوفي خلیل الله خان خلیلي (قصیده ویونکی شاعر)، د هرات والي عبدالرحیم خان نایب سالار، د پکتیا ولایت قوماندان جنرال صاحبزاده محمدصدیق خان او د کندهار والي عبدالغفورخان. پخواني درې تنه هندیان هم په دغې دستګاه پورې تړلي وو، چې نومونه یې دادي: د حکیم احمدخان زوی محمد محفوظ خان، مولوي عبداللطیف خان مهاجر او د پکتیا پخوانی اعلی حاکم امیرالدین خان.

په خپله حبیب الله د یو هېواد د ادارې نه، بلکې آن د یوه کلي د ادارې کولو سړی هم نه و، خو له دې لامله چې ده سره یو شمېر زړور غله وو، چې د لښکر او جنګ په سر کې راغلي وو، ددې تر څنګ یو شمېر تجربه لرونکي او په کار پوه خلك هم په حکومت کې وو، چې په رښتیا سره یې غوښتل چې د سقو د زوی حکومت په یوه حسابي حکومت بدل کړي، لکه د دربار وزیر شیرجان خان، د بهرنیو چارو وزیر عطاالله خان، د پکتیا قوماندان، محمدصدیق خان، سرمنشي محمدیوسف خان، د هرات والي عبدالرحیم خان، د کندهار والي عبدالقدیر خان د بلخ مستوفي خلیل الله خلیلي او یو څو نور. له دې ټولو سره دغه د ښلا ښلو طبیعتونو لرونکي خلك و، چې د حبیب الله شا و خوا راټول وو او په ښلا ښلو کړښو روان وو. یو شمېر ښځي جاهل او نوي دولت ته رسېدلي وو، چې ډېر حریص او یواځې د پیسو په ټولو بوخت وو او له ډېرې لوږې به یې چې هر څه ځمکه، باغ یا ماڼۍ وموندله هغه به یې ترلاسه کوله، دوی دولتي ودانیو څخه خپل شخصي کورونه جوړ کړل، په ښېرو کې یې هم هره ورځ بدلون راته او ورو ورو یې ږیرې او بریتونه لنډ شول، د رسمي دریشي ګانو پتهی یې پلنې او پخواني زاړه لقبونه بېرته را ژوندي شول لکه نایب السلطنه او معین السلطنه، جرنیل، خودمختار او نور. له دې کبله چې د خپل وخت له غوښتنو او حتی د کابل له ژوند څخه ډېر وروسته وو، نو خپل شا وخوا ته یې

د هیڅ ډول علم او عقل د لیدو طاقت نه درلو، د کفایت او فضیلت دښمنان وو، هر چېرې به یې چې سر ومومند هغه به یې پرې او تر خاورو لاندې کاوه. تر څو ټول لرې او هیڅ سر پاتې نه شي او دوی به یواځیتوب سرفرازي وکړي، نو ځکه دوی په توري،زنځیر او اعدام باندې ډېره ولګوله، خو له دې ټولو سره سره له دې لامله چې دوی د خلکو له منځه راپاڅېدلي وو، نو له توطئې، دوکې او د خلکو له غولولو څخه یې کرکه درلوده. دمال او پیسو له ټولو سره خسیس نه وو، هغه څه به یې، چې ترلاسه کول، هغه به یې په نورو لګول. دوی لکه د عصري او مډرنو غلو په شان نه وو، دوی سره او سپین نه زیرمه کول او له سوداګري او سود خوړلو سره جوړ نه وو. دوی سره له دې، چې د بهرنیو او کورنیو دښمنانو په ګډه هڅه په کار واچول شول، خو د هغوی په لاس په سیده توګه هدایت او رهبري نه شول، بلکې زیاتره به په ناسیده توګه او په ناشعوري توګه د هغو تر اغېز لاندې راتلل. البته له دې لامله چې تاریخ عمل ته ګوري، نو ځکه دواړه یو شانته محاکمه کوي او تاریخ هم لکه د خلکو او ټولنې په شان په خپل دغه قضاوت کې بې رحمه دی. حبیب الله خان چې په خپله د حکومت په سر کې و، په لومړیو کې یې شعارونه ورکول، چې بخارا باید آزاده کړو، خو وروسته یې دا شعار ورکړ، چې باید د صندل دروازه له هندوستان څخه راوړو. هغه د افغانستان د خپلواکۍ د کلیزې په هغه لومړي جشن کې، چې دده په دوره کې په د دهمزنګ کې د کابل د سیند کیڼ اړخ ته جوړ شوی و ، د حربیې د وزیر په نظامي لباس کې سپور راغی او د لرګي په یو منبر باندې وخوت او له یاده یې یوه وینا وکړه (دا ځکه چې هغه سواد نه درلود، چې د کاغذ له مخې وینا ولولي) او ویې ویل: "وروڼو! نن د افغانستان د خپلواکۍ جشن دی. دغه جشن نه د امان الله خان او نه د حبیب الله دی، دا ستاسې د خلکو جشن دی، چې خپله خپلواکي مو په توري سره ترلاسه کړې ده او په توري سره به یې ساتئ. جشن دې تاسې او د افغانستان ټولو خلکو ته مبارك وي، ځئ په مخه مو ښه."

ددغه حکومت هغه ډله، چې لږ څه پوه وو، له راتلونکي څخه په ویره کې وو، په تېره بیا په کندهار کې یې د پاچا امان الله خان شتون ځانته یو لوی ګواښ ګاڼه، نو ځکه یې د خپلو پلویانو ملایانو په مرسته د ۱۳۴۷ق. کال د شعبان په شپږمه یوه تفصیلي اعلامیه خپره کړه، چې نولس توکه یې لرل. دغې اعلامیې، چې د یوې شرعي فتوا بڼه یې لرله، په هغې کې څه نا څه څو اویا تنو ملایانو او ملکانو لاسلیکونه کړي وو او په هغې کې یې پاچا امان الله تکفیر او خلع کړ. ددغو لاسلیك کوونکو څخه یو څو تنه یې چې د امانیه حکومت لوړ پوړي مامورین وو دا دي: د معارف وزیر سردار فیض محمدزکریا، د دولت د شورا مشر سردار شیراحمدخان، د امیر حبیب الله خان زوی سردار حیات الله خان، د امیر عبدالرحمن خان زوی سردار محمدعمرخان، د نایب السلطنه زوی سردار عزیزالله د مالیې وزیر میرزا میرهاشم خان، د مالیې د وزارت مرستیال میرزا محمد حسین خان دفتري، د داخله تفتیش رئیس میرزا مجتبی خان، مستوفي میرزا سید حبیب خان، د تمیز رئیس قاضي محمداکبر خان، د حربیې د وزارت معین حبیب الله خان، د پاچا یاور محمود خان. خو په دغو څو اویا تنو لاسلیك کوونکو کې یواځې عبدالهادي داوي دغه جمله ولیکله او بیا یې لاسلیك وکړ "د مسئلې په جزئیاتو علما پوهېږي"

د پاچا امان الله د تکفیر دلایل دا وو: هغه شفاهي سلام منع او د سر په اشاره یې بدل کړی و، د پټکي پر ځای یې خولۍ مقرره کړې وه، د پخوانیو جامو پر ځای یې نوې جامې دود کړې وې، د ږیرې خریېل یې دود کړي و، ښځینه ښوونځي یې جوړ کړي و، چادري یې لرې کړې وې. نجونې یې بهر ته واستولې، د دین له علماوو سره یې مخالفت کاوه، محصلانو په ښوونځیو کې انګرېزي زده کوله. په شرع کې یې فساد روا کړ، قمري کال یې په شمسي واړاوه. انګلیسي نېټه یې اعلان کړې وه. د جمعې د ورځې رخصتي یې پنجشنبې ته اړولې و، د ملا امامانو او مؤذن معاش یې موقوف کړی و، مجددي حضرات (محمد صادق خان او محمد معصوم خان) یې بندیان او د حضرت صاحب ملا امام قاضي عبدالرحمن خان یې اعدام کړ، د ملایانو امر معروف یې منع او بت پالنه او شراب څښل یې دود کړل، د جنوبي ملا عبدالله خان او لوی عالمان (د پکتیا اړ-دوړ کوونکي) یې اعدام کړل او د هغه (امان الله) اعمال د شرع خلاف وو، نو ځکه هغه ته خپل بیعت ساقط او امیر حبیب الله ته مو بیعت وکړ). ددغې اعلامیې په پای کې حبیب الله امان الله خان خلع او خپله پاچاهي یې اعلان کړه او ژمنه یې وکړه چې: د حنفي مذهب خلاف بدعت منسوخ شو، د عسکري جبري خدمت موقوف او عسکري په خپله خوښه شوه، ښوونځي لغو شول او نوي مالیات هم لغو شول.

د سقو د زوی د دربار اصلاح طلبانو ډېره هڅه وکړه، چې د هغه داره یې حکومت ته مدني بڼه ورکړي، نو ځکه یې د سید محمد حسین په لیکوالي او وروسته یې بیا د برهان الدین کشککي په لیکوالي د "حبیب الاسلام" د جریدې په خپرولو لاس پورې کړ. په دغه جریده کې زیاتره د امیر اطاعت او د پخواني دولت دمذمت په هکله لیکنې راتلې. همدارنګه دوی وغوښتل، چې خپل حکومت بهرنیانو ته وروپېژني او هغه ته نړیوال رسمیت ور وبخښي، نو ځکه یې یو فوق العاده هییت د سفارت په توګه بهر ته واستاوه. د یغماني قاضي عبدالرحمن خان یو خپلوان عبدالصبور نسیمي ددغه هیئت له داو طلبانو څخه و، خو د هېواد دننه حالاتو او د ګاوندیو هېواد نه پاملرنې ددغه پلاوي بهر ته د تللو وخت ورنه کړ. له دې لامله چې د امانیه دولت له پرځېدو او د اړ-دوړ کوونکو د واکمنۍ له ټینګېدو څخه وروسته د هېواد په ډېرو سیمو کې داسې حساس کېدله، چې دغه ډول یو حکومت د هېواد د چارو د سمبالښت وړتیا نه لري، نو ځکه ډېر ژر یو شمېر غبرګونونه تر سترګو شول. په کابل کې د ښوونځیو د زده کوونکو یوه ټولنه جوړه شوه او دوه تنه (حبیب الله خان او عبدالرسول خان) دې ته چمتو شول، چې د سقو زوی مړ کړي. دوی غوښتل، چې د پل خشتي په جومات کې هغه مهال چې د سقو زوی جومات ته ننوځي هغه په بم سره له منځه یوسي، خو ددغو ځوانانو له ډلې څخه یو تن په دې خبره باندې پوه شو او د سقو زوی یې خبر کړ، ډېر ژر دغه دواړه ور وغوښتل شول او ددوی له یوه بل ملګري (قاري دوست محمد خان) سره یو ځای اعدام شول. دوی پسې وروسته یوه بله ډله راڅرګنده شوه، چې د سقو د زوی د ترور نقشه یې جوړوله. د امیر حبیب الله خان زامن عبدالحمید خان توخي، سردار عبدالمجید خان او سردار حیات الله خان او سردار محمد عثمان خان، قاضي محمد اکبر خان او د پخواني حربیې وزارت معین حبیب الله خان په همدې تور ونیول شول او اعدام شول. له دې څخه وروسته د سقو زوی، ملک محسن او عبدالغني

قلعه بیګي او یو شمېر نور ډېر په غوسه شول او ظلمونه یې پیل کړل. دوی قاضي عبدالرحمن خان، چې لکه د مولوي عبدالواسع په شان یو روښانه قاضي و، د کابل په چوك باندې بند بند پرې کړ او د جګړې د وژلو شویو خلکو په سرونو باندې یې د پل خشتي په بازار کې میخونه ټك وهل په دې توګه یې په ښار کې لویه ویره را پیدا کړه.

سره له دې، چې د سقو زوی وکولای شول، چې د خپل واك په لومړیو کې د قطغن، بلخ، میمنې او هرات ولایتونه د هغو شرایطو لاندې، چې لا د مخه لار ورته هواره شوې وه، په آسانۍ سره ونیسي، خو ډېر ژر په وردګ، هزاره جاتو، کندهار، پکتیا او ننګرهار کې مخالفتونه پیل شول او ورو ورو د مخالفت لښکر جوړ شو، له دې لامله چې لګښتونه زیات او خزانه تشه شوې ده، نو یو ځل بیا د مالیاتو او عوارضو تحصیل کول پیل شول او مصادره کول هم جاري شول. له بهر سره په ختیځ او جنوب کې لارې بېخي بندې شوې او په شمال کې هم له ګواښ سره مخامخ شوې، په دې توګه بیې لوړې شوې او اقتصادي او سوداګریز وضعیت مخ په خوړ شو. بزګران او شپانه په غوسه شول او د سوداګرو هم زړه تور او کرکه ورته پیدا شوه، خانان په ویره کې شول، ملایان هم د راتلونکي په هکله شکمن شول، نو ځکه د اړ-دوړ کوونکو د دربار اصلاح غوښتونکي د خپل حکومت د پیاوړي کولو په هڅه کې شول، نو ددې موخې لپاره یې سردار احمدشاه خان (چې وروسته بیا د دربار وزیر شو) بهر ته د سپه سالار محمد نادرخان د لیدو په خاطر واستاوه او له هغه څخه یې وغوښتل، چې هېواد ته راشي او نظامي چارې سمبالې کړي. هغه د فرانسې په نیس ښار کې و. همدا رنګه دوی محمد معصوم المجددي هند ته د حضرت نور المشایخ د کتنې په خاطر واستاو، چې هلته د بمبئ په نواح سیمه کې اوسېده، تر څو هغه هم بېرته افغانستان ته راشي او د حکومت په سمبالتیا کې برخه واخلي، دا ځکه چې د سقو زوی دده په وړاندې د ولایتونو له پاڅون څخه ویرېدلی و. مقاومت کوونکي ولایتونه دا وو:

## ننګرهار

پاچا امان الله خان د مرغومې په ۲۴مه (د جنوري په ۱۴مه) له سلطنت څخه استعفا وکړه او کندهار ته ولاړ. د مرغومې په ۲۵مه والي علي احمدخان د سلطنت اعلان وکړ، خو د سقو د زوی له خوا لېږل شوی هیئت دهغه د پاچاهۍ ادعا رد کړه او په خپله په دې لټه کې شو، چې په کابل برید وکړي کله چې د سقو د زوی د لېږل شوي پلاوي مشر د تګاو د اخندزاده زوی، بېرته له جلال آباد څخه راستون شو، نو د اړ-دوړ کوونکو حکومت په اندېښنه کې ولوید. والي علي احمد خان یو ډېر جاه طلب او زړور خو د خپل نظر چلوونکی سړی و، دهغه نه دوستانو او نه هم دښمنانو او نه هم هغه چا په ده باندې باور کولای شو، کوم چې د افغانستان په سیاست کې یې لاس درلود، دا ځکه چې ټول پوهېدل، چې والي علي احمد د خپلو غوښتنو د ترلاسه کولو لپاره، ممکن هر کار باندې لاس پورې کړي او په هماغه لاره به ځي، چې دی یې غواړي، نه هغه چې نور یې غواړي، نو کله چې هغه خپل ځواکونه د کابل په لوري (له جګدلك څخه د ملا عمر د سمڅو په لوري) واستول، د ننګرهار د نظامي ځواکونو قوماندان محمدګل خان

Scanned by CamScanner

مومند چې له ده سره يو ځای و، ورسره مخالفت وکړ، خو والي علي احمد خان هغه پر کلك وډباوه. خو محمدګل خان مومند د خپل يوه سيمه ييز همکار کنډك مشر سيد حسين خان د اهميت په پايله کې له مرګ څخه وژغورل شو. د علي احمد خان په ځواکونو کې د کاپيسا او پروان اوسېدونکي ټول سرتيري د ملا عمر د سمڅو د لارې په ترخ کې له پوځ څخه جلا او کابل ته وتښتېدل او هغه د جنګي مهماتو موټر چې دده قايم مقام يعني نايب سالار عبدالوکيل خان له جلال آباد څخه ورپسې استولي وو، د هاشم خېلو په سيمه کې د خلکو لاس ته ولويد، والي د خوږيانيو له خلکو مرسته وغوښته او د دوو خانانو (ملك محمدجان او ملك محمدشاه) تر مشرۍ لاندې يې يو څه ځواکونه ترلاسه کړل، خو دغه دوه سره سيال ملکان د لارې په اوږدو کې يو بل سره ونښتل او دواړه ووژل شول او د خوږيانو ځواکونه وپاشل شول. د شينوارو مرستندوی ځواك هم چې والي ته ورسېد، کتل يې، چې ټول له والي سره مخالف دي، نو دوی خپله هم د والي په وسايلو ورګډ شول او بېرته ستانه شول. علي احمد خان اړ شو، چې لومړي لغمان ته او بيا له هغه ځايه کونړ ته ولاړ شي، خو هېڅوك هم دده پر شا و خوا راټول نه شول، نو څکه د مومندو له لارې پېښور ته واوښت. پخواني اړ-دوړ کوونکي د جلال آباد د وسله تون د ترلاسه کولو لپاره په جلال آباد ور شيوه شول، خو وسله تون د بې احتياطۍ له لامله اور واخيست او د ښار يوه برخه يې وسوځوله په دې توګه د سقو زوی له دې څخه ډاډه شو، خو د لوګر ولايت يې ونيولای شو.

## وردګ

خو د وردګ خلکو له هماغه پيل څخه د سقو د زوی حکومت نه مانه او د هغه حاکم يې بېرته راوشاړه. د سقو زوی دغه ولايت ته ځواکمن پوځ واستاوه، خو د وردګ خلکو د توپ دښته کې د نامتو کريم خان وردګ او کرنيل عبدالله خان (ماهيار) تر مشرۍ لاندې ورسره وډزول او له هغوی څخه يې اووه سوه تنه بندي يا ټپي اووژل، او په شا تګ ته يې اړ کړل، خو وروسته بيا بېرته د سقو زوی د جګړې په زور دغه سيمه ونيوله او کريم خان يې چې د وردګو زړه او د امان الله خان کلك پلوی و وواژه او د هغه کلا يې د وردګو په تنګي کې لوټ کړه، چې دغه کلا د جګړه ييزو مهماتو لويه زيرمه وه. د هغه کورنۍ يې له فتح محمد خان او عبدالسلام خان سره يو ځای کابل ته راوستله او بنديان يې کړل خو عبدالله خان کرنيل وتښتېد.

## په هزاره جاتو کې

همداسې هم هزاره خلك، چې په کلکه د پاچا امان الله خان پلويان وو، د سقو زوی ته تسليم نه شول، دې پر ځای يې د امان الله خان ورور (سردار محمدامين خان) او د پاچا له خوا د ور لېږل شوي پلاوي مشر خواجه هدايت الله خان وساتل او هغوی ته يې په خپله سيمه کې ځای ورکړ او د هغوی د پياوړتيا لپاره يې هم سري او هم مالونه ورکړل او د غزني په جګړه کې يې هم د سقوي د زوی له ځواکونو سره

Scanned by CamScanner

جګړه وکړه. سره له دې، چې د سقاو زوی وکولای شول، چې د نادر علي خان جاغوري، رضابخش خان تحصیلدار، ملك حضرمحمد میداني او میرزا حسن علي په لاس د هزاره جات یوه برخه ونیسي، خو ډېر ژر خلکو وسله وال راټول کړل او د دښمن پر مخ یې لارې وتړلې، په دې کې یوهم د میرغلام حسن بیګ بهسودي زوی میر فتح محمد خانو (چې وروسته بیا فرقه مشر شو) او د شاه نور زوی سیداحمدخان وو، چې دوه زره تنه یې جګړې ته چمتو کړل. خلکو دوی ته وسلې او ډوډۍ ورکوله او د بهسودو ۴۸ زره روپۍ خزانه د امان الله خان په فرمان د جګړې داو طلبانو ته ورکړل شوه. دغو داو طلب سپاهیانو څه نا څه د میر فتح محمدخان او سید احمدخان تر مشرۍ لاندې د اونۍ په غاښي کې سنګرونه جوړ کړل، چې د ورې له میاشتې څخه یې د وږي تر میاشتې پورې شپږ میاشتې په هزاره جاتو کې د سقو د زوی د پرمختګ مخنیوی وکړ. دوی د دریو جګړو په ترڅ کې دهغه پوځونه ورمات کړل. کله چې پاچا امان الله خان یو ځل بیا له کندهار څخه مخ په غزني لښکر راواستاوه، یو شمېر هزاره خلکو د مخکې ذکر شوي رضا بخش خان تر مشرۍ لاندې داد علي خان، خلیفه قربان بهسودی، ګل محمدخان، محمدموسی خان او حسین علي خان سره یو ځای دپاچا په پلویتوب جګړه پیل کړه. د غزني د بالاحصار جګړه کې تورك حضرت خان هزاره یوسف خان ووژل شول. د دوی سرونه یې د کابل په چند اولو کې په بازار کې وځړول. پاتې نورو ځواکونو ته امان الله خان امر وکړ، چې دده له ورور محمدامین خان، خواجه هدایت الله خان او عبدالغفور کوهستاني سره بهسودو ته ورستانه شي. دوی هلته د سقاو د زوی تر پرځېدو پورې مقاومت ته دوام ورکړ. د سقو زوی یو پلاوی هم هزاره جات سیمې ته واستاوه، چې په هغه کې تاریخ لیکونکی میرزا فیض محمدخان محمدعظیم خان کو ... نی، میرآقا خان مجتهد او خلیفه غلام حسن خان غړي وو، داونۍ درې ساتونکي میر فتح خان دوی داونۍ په غاښي کې ونیول او د بندیانو په ډول یې محمدامین خان او خواجه هدایت ته وسپارل، خلکو ددغه پلاوي بلنه ونه منله او دوی یې ژوندي بېرته د وردګو له لارې کابل ته ورستانه کړل. د پلاوي د همدې تګ راتګ په پایله کې د سقو زوی د سراج التواریخ په لیکوال میرزا فیض محمدخان باندې شکمن شو او هغه یې په لرګیو باندې ډېر زیات وواهه، میرزا ناروغ شو او وروسته بیا ایران ته ولاړ او هلته تر درملنې وروسته بېرته هېواد ته راغی او مړ شو او دهغه تاریخي آثار (درېیم او څلورم ټوك سراج التواریخ) له منځه ولاړل.

## شمالي ولایاتو کې

ددې پر ځای د اړ-دوړ کوونکو حکومت لا د مخه د قطغن او بدخشان ولایتونه پرته له کوم مخالفت څخه نیولي وو او هلته د دوی والي حکومت چلاوه. همدا رنګه عبدالرحیم خان نایب سالار د بلخ د تنظیمیه رئیس په توګه واستول شو. د بلخ والي عبدالعزیز خان څرخي سره له دې، چې یو څه نظامي کنډکونه ایبك او سمنګانو تـه ولېږل، خو د سقویانو د قوماندان او د هغـه د مرستیال میرزا محمدقاسم خان مزاري د تبلیغاتي پاڼو د خپرېدو له لامله د دولت سرتیرو د خپلو افسرانو په نیولو او بندي کولو لاس پورې کړ. د زړور محمد الیکل خان ټولې هڅې (چې د دولت د پوځیانو قومندان و) کوم ځای ته ونه

Scanned by CamScanner

رسېدې، چې د بلخ له والي سره د بلخ د پوځيانو په لاس بندي شو. په دې توګه د ۱۳۰۷ لمريز کال د کب د مياشتې په پيل کې نايب سالار عبدالرحيم خان د مزار ښار ته ننوت، وروسته بيا له کابل څخه خواجه عطا محمد خان کوهستاني د بلخ د والي په توګه ور ولېږل شو، چې بلخ يې تر ميمنې پورې واک لاندې راوست. په هرات کې هم پاڅونونه پيل شول، چې په پای کې سپاهيانو قيام وکړ، چې پايله يې دا شوه، چې والي محمدابراهيم خان او نظامي قوماندانان عبدالرحمن خان ووژل شول. دغه مهال محمودطرزي وکولای شول، چې له هرات څخه بهر ته وتښتي، خو جنرال محمدغوث خان د ډېر ژر ببرته دهرات امنيت ټينګ کړ.

تر څو چې له لندن څخه د افغانستان مختار وزير شجاع الدوله را ورسېد او د چارو واک يې ترلاسه کړ. وروسته بيا نايب سالار عبدالرحيم خان له ميمنې څخه هرات ته ځواکونه بوتلل او شجاع الدوله د دفاع لپاره ځان چمتو کړ. دا مهال دهرات روحانيونو لکه دهرات مجددي حضراتو او نورو د امانيه دولت ضد فعاليت پيل کړ، د هرات پوځيانو پاڅون وکړ او شجاع الدوله اړ شو، چې د ګزرګاه خوا ته په شا ولاړ شي. عبدالرحيم خان را ورسېد او د هرات واک يې ترلاسه کړ. شجاع الدوله وکولای شول، چې د ګزرګاه د متولي په ضمانت له هرات څخه ووځي او د ايران له لارې اروپا ته ولاړ. دا ځل په شوروي کې افغاني سفير غلام نبي خان څرخي له څو سوه هزاره او ترکمني عسکرو سره د آمو له پورې غاړې څخه د افغاني (کلفت) سيمې ته راغی او تر دولت آباد پورې يې پرمختګ وکړ. په مزار کې سقوي عسکرو دفاع وکړه او د خواجه ولي . - سيمه کې د ۱۳۰۸ کال د ورې په پای کې له کلکې ماتې سره مخامخ شو. غلام نبي خان څرخي د غويي د مياشتې په دوهمه وروسته تر يوې سختې جګړې څخه د مزار ښار ونيو، خووروسته تر لږ مودې د سقوي حکومت تنظيميه رئيس له تاشقرغان څخه ازبك دوه زريز پوځ چمتو کړ او په مزار ښار باندې يې بريد وکړ، خو له ماتې سره مخامخ شو، بيا هم دسقويانو تيت او پرك بريدونه د مزار شا و خوا روان وو. غلام نبي خان دغويي د مياشتې په ۱۸مه د سقويانو د شيرآباد لښکر کوټ ونيو او يوه ورځ وروسته يې بيا د توپونو او الوتکوپه بمبارۍ سره جنګي کلا ونيوله. د سقويانو وروستی مقاومت هم په تاشقرغان کې له منځه ولاړ، په دې توګه د بلخ ټول ولايت د غلام نبي خان تر واك لاندې راغی. سقوي حکومت د جنګ وزير سيدحسين د يوه څلور وزير پوځ په مشرۍ د بلخ ولايت ته راواستاوه. غلام نبي خان دغو لښکرو ته هم په ايبك کې ماتې ورکړه او سره ويې ځغلول، په خپله سيدحسين د قطغن ولايت ته وتښتيد. دا مهال پاچا امان الله خان له کندهار څخه د کابل په لوري روان شو او تر غزني پورې رسېدلی و، چې هلته د سقويانو او سليمانخېلو په لاس له ماتې سره مخامخ او له افغانستان څخه ووت. د بهرنيو چارو وزير غلام صديق خان څرخي خپل ورور غلام نبي خان څرخي ته په تلګرام کې د پاچا د وتلو په هکله خبر ورکړ، غلام نبي خان د فتح او بشپړې سوبې په حالت کې افغانستان پرېښود او له آمو څخه پورې وت. هغه په خپل دغه حرکت سره دا وښودله، چې غوښتل يې فقط پاچا امان الله خان ته خدمت وکړي، نه ټول هېواد او د هېواد ترقي ته، نو ځکه يې هېواد د اړ-دوړ کوونکو منګولو ته ور پرېښو او له هېواد څخه ووت.

## په پکتیا ولایت کې

د ننګرهار، کاپیسا او پروان د اړ-دوړ په را څرګندېدو کې د پکتیا نظامي قوماندان جنرال محمد صدیق خان صاحبزاده و. دغه سړي په خپلو اړونده سرتېرو باندې عجیبه اغېزه لرله. چېرته به چې دنده لرله، د هغه له نیکو اخلاقو او پاکۍ څخه به خبرې کېدې او هر کلي به یې کېده. کله چې پاچا په کابل کې استعفا وکړه او معین السلطنه بهر ته ولاړ، محمدصدیق خان د خپلو وروڼو (د دربار د وزیر شیرجان خان او د سقو د زوی د بهرنیو چارو د وزیر عطاءالله خان) په مشوره یې حبیب الله ته بیعت وکړ او د عقیدې له مخې یې تر پایه دغه بیعت وساته. په پکتیا کې ددغه سړي شتون خامخا د خلکو په چلند اغېزه لرله، نو تر یوې اندازې پورې د خلکو پام د سقو د زوی ته واوښت، خو نور ونه غوښتل، چې دغه حکومت ته تسلیم شي او کتل یې چې نور څه کېږي. میر غوث الدین خان احمدزایي هغه بل نامتو پاڅون کوونکی و، چې د امانیه دولت له پېښو او وسلو سره له کابل څخه را تېښتیدلی و او اوس دلته دسقو د زوی په ګټه په فعالیت بوخت و، ددغو توګو په پایله کې د سلیمانخېلو پیاوړی قوم هم د سقو د زوی پلو ته واوښتل، خو د ګردیز خلك د سقاو د زوی په وړاندې ودرېدل، ځاځي او څمکنیو چې له هماغه پخوا څخه د لړم او لیندۍ په میاشتو کې د اړ-دوړ له پیل څخه د امان الله خان د حکومت په ضد پاڅېدلي وو اوس هم د سقو د زوی په ضد پاتې شول. په پکتیا کې دا دوه ډلې کېدل ددې لامل شو، چې د احمدزیو او د ګردیز د خلکو تر منځ جګړه ونښلي.

د ۱۳۰۷ل. کال په کب (د ۱۹۲۹م. په مارچ) کې سپه سالار سردارمحمد نادرخان په پاریس کې افغاني پخوانی وزیر مختار له فرانسې څخه د هندوستان په لاره باندې پکتیا ته راغی او د سقو د زوی د راپرځولو لپاره یې ځواکونه سره یو موټي کړل. د پکتیا اعلی حاکم عبدالحکیم خان او د پکتیا نظامي قوماندانان محمد صدیق خان دواړه په ګردیز کې د سپه سالار تر اغېزې لاندې راغلل، حال دا چې عبدالحکیم خان لا اوس هم ځان د سقو د زوی د حکومت استازی ګاڼه او دوهم سړی خو بېخي پوخ د سقو د زوی پلوي و. په همدې مهال کې حضرت نور المشایخ مجددي هم له هندوستان څخه پکتیا ته را ورسېد. نورالمشایخ د بمبئ شا وخوا کې اوسېد، کله چې سپه سالار سردار محمدنادرخان پاریس څخه بمبئ ته راغی په یوه لیك کې یې نورالمشایخ ته ولیکل، چې زه افغانستان ته ځم، ښاسي هم راشئ. نورالمشایخ یو څه موده پاتې شو، چې حالات وڅاري، کله چې د پکتیا له جګړو څخه خبر شو، نو افغانستان ته د تګ د اجازې د اخیستو په خاطر بمبئ کې د انګلیس ګورنر ته ورغی (دا ځکه کله چې نورالمشایخ له افغانستان څخه را ایستل شوی و، دامانیه حکومت د غوښتنې له مخې د افغانستان پولو ته نږدې له پاتې کېدو څخه منع کړل شوی و) ګورنر ځواب ورکړ، چې نور المشایخ ته د افغانستان د تګ اجازه له وایسرا سره ده. نورالمشایخ خپل ورازه محمد معصوم مجددي، چې د سقو د زوی له بلنې سره یو ځای هند ته راغلی و، ډیلي ته واستاوه او یو لیك یې د امیر محمد یعقوب خان زوی سردار محمد موسی خان ته ولیکه، چې ددغې اجازې اخیستو په خاطر له محمد معصوم سره مرسته وکړي.

Scanned by CamScanner

سردار منځګړی شو او محمد معصوم خان وکولای شول، چې د هندوستان له فارن سکرتري سره وګوري. له دې څخه وروسته انګلیس رسمي اجازه ورکړه، چې نورالمشایخ له هرې لارې، چې غواړي افغانستان ته ورشي. په دې توګه نورالمشایخ له خپلې کورنۍ سره یو ځای د افغانستان پولو ته راورسېد، چې په دېره اسمعیل خان کې سلېمانخېلو هغه ته تود هر کلي ووایه. نورالمشایخ د بولان د درې له لارې پکتیا ته را ورسېد او دلته د پکتیا په ښرنه کې میشت شو. په زرګونو سلیمانخېلو د هغه راتګ ته هر کلي ووایه.

نور المشایخ ظاهراً په کتواز کې دا شعار ورکاوه، چې په افغانستان کې سراسر سوله او امنیت غواړم. د هېواد لپاره باید پاچا د ملت له لوري غوره شي. د سقو زوی (حبیب الله) باید له پاچاهۍ څخه تېر شي، خو عملاً نورالمشایخ وخت تیراوه، دا ځکه چې لا دا مهال هم امان الله خان په کندهار کې د بیا راتګ په حالت کې و او پر کابل باندې د برید کولو په حال کې و، نو نورالمشایخ هم نه غوښتل، چې تر څو امان الله خان وي، د سقو زوی وپرځېږي. له بلې خوا سلیمانخېل چې ټول اووه زره تنه د نورالمشایخ په شا و خوا راټول شوي وو او دهغه د قرارګاه لګښت، چې په یوه شپه او ورځ کې پېنځلس غویان او دیرش پسونه کېدل. همدوی په غاړه اخیستي وو. دوی ټول د امان الله خان مخالف، خو د سقو د زوی پلویان وو، نو ځکه په دې لټه کې وو، چې په غزني کې په هغه باندې برید وکړي، میر غوث الدین خان احمدزي وړاندیز کاوه، چې په خپله نورالمشایخ د پاچا په توګه مني، خو د امان الله خان پلویتوب نه کوي.

## کندهار او وروستۍ پرده

پاچا امان الله خان د ۱۳۰۷ل. د مرغومي په ۲۴مه (د ۱۹۲۹م.) د جنوري په ۱۴مه) نېټه له کابل څخه کندهار ته ولاړ او د مرغومي په ۲۲مه ښار ته ننوت. دې پسې وروسته د معین السلطنه د تګ خبر ښېښور ته خپور شو او معین السلطنه هم هلته ورغی. د کندهار خلکو یو ځل بیا امان الله خان ته د بیعت لاس ورکړ او یو مؤقت حکومت یې جوړ کړ. د حرب وزیر عبدالعزیز خان د عبدالکریم خان پر ځای د کندهار والي شو، خو پاچا هم لکه هغسې چې کابل کې د یو شمېر غرض لرونکو خلکو له خوا ایسار شوی و، په کندهار کې هم د خرابکارو او غرض لرونکو کسانو له خوا ایسار شو او د چارو خرابول په پټه روان وو. یو شمېر هغو ځوانو افسرانو، چې په ترکیه کې یې تحصیل کاوه، پاچا سره د مرستې په خاطر کندهار ته راغلل، خو چندان پاملرنه ورته ونه شوه، پاچا لکه د پخوا په شان یواځې پاتې و او لاره ورڅخه ورکه وه، خو بیا هم په دې لټه کې شو، چې یو لښکر جوړ کړي او مخ په کابل روان شي، خو د هغه مخالفینو د هغه فعالیتونه شنډ کول. پاچا اړ شو او اعلان یې وکړ، چې هرات ته ځي او له هغه ځایه د بلخ له لارې پر کابل ورځي. د پاچا دغه هوډ دده د پټو دښمنانو په خوښه برابر نه و او د کندهار خلکو هم نه غوښتل، چې پاچا ناکام له دوی څخه بلې خوا ته ولاړ شي، په دې توګه د داو طلب لښکر راټولول پیل شول، په لږ وخت کې یې شمېر له څلور زرو څخه اتو زرو ته ورسېد او ټولو وسله ترلاسه کړه. دوی سره یو ځای دولتي منظم لس کنډکه پلي او سپاره او توپچي پوځونه په کندهار کې وو. په

همدې وخت کې پاچا ته خبر راورسېد، چې په هرات کې دده د دښمنانو په دسیسې سره یو نظامي اړ دوړ پېښ شوی دی او والي محمدابراهیم خان او نظامي قوماندان عبدالرحمن خان دواړه وژل شوي دي، خو بېرته د پاچا پلویانو امنیت ډاډمن کړی.

په هرحال، پاچا له ۱۴ زره منظم او غیر منظمو سرتیرو سره د ۱۳۰۸ل. کال د وري په شپږمه (د ۱۹۲۹ د مارچ په ۲۲مه) له کندهار څخه د کابل په لوري روان شو دده پیشدار او قوماندان د کورنیو چارو وزیر عبدالاحدخان وردکي (ماهیار) او د هغه مشاورین دښاروالۍ رئیس احمدعلي خان او (کاپیسا او پروان تنظیمیه رئیس و. د پاچا ځواکونه په شلو ورځو کې غزني ته ورسېدل، هلته د سقو دزوی د دوه زره سرتېرو او دغزني د بالاحصار له مدافعې سره مخامخ شو. د نوموړي ددغه سفر په ټوله موده کې د کورنیو او بهرنیو مخالفینو پروپاګنډې همداسې روانې وې د وري پر دیارلسمه نېټه په کلات کې یو افسر سرتیري پاڅون ته وهڅول، خو هغه ونیول شو او د پاچا په حکم اعدام شو. په همدې وخت کې له هند څخه یو نوی راغلی ملا ونیول شو او بهرنیانو ته د جاسوسۍ په تور اعدام شو. دوري په څوارلسمه یو بل بهرنی جاسوس ونیول شو او په خپل جرم یې اعتراف وکړ او ډېر ژر یې اعدام کړ. د وري د میاشتې په ۱۷مه نېټه خبر را ورسېد، چې یو ټولی سقوي عسکر تسلیم شوي دي، دې پسې وروسته د هزاره وو د یو شمېر داو طلب سرتیري را ورسېدل، ورپسې د پاچا د پوځ په لاس د سقویانو یوه ډله سرتیري ونیول شول، د پاچا په امر د هغوی عادي افراد ټول خوشې شول، خو افسران یې اعدام شول. د وري د میاشتې په ۲۳مه نېټه د پوځیانو او له پاچا سره د یو شمېر نورو مخورو شکایت په دې هکله راپورته شو، چې د دربار وزیر محمد یعقوب خان او د هغه په شان یو شمېر نور خلك د خلکو او پاچا ترمنځ خنډ ګرځېدلي دي، خو پاچا دغه شکایت ته کوم اهمیت ورنه کړ. د وري د میاشتې په ۲۴مه نېټه د هزاره وو درې زره سرتیري او د قره باغ خلك د پاچا هر کلي ته ورغلل، په دې توګه د اردو معنویات اوچت شول. په همدغه ورځ د پاچا پیشدار غزني ته ورسېد او جګړه یې پیل کړه. د وري په ۲۶مه په خپله پاچا له منظم پوځ سره غزني ته ننوت. له کابل څخه د سقویاانو دوه الوتکې راغلې، خو د پاچا د پوځ پر ځای یې خپل بمونه لرې ځایونو کې واچول او د پاچا اردو ته یې له پاسه تعظیم او سلام وکړ او بېرته ستنې شوې. دوري د میاشتې په ۲۸مه یو ملا د عرض کولو په نوم د درانیو او غلجیو په سیمه کې د پاچا خیمې ته ورغی او په خپلې تبرچې باندې یې په پاچا د برید کولو هڅه وکړه، خو ونیول شو او تر پلټنې وروسته یې د کتاب له پوښ څخه یوه انګرېزي تصدیق پاڼه ترلاسه شوه او په خپله دی په هماغه تبرچې باندې چې ورسره وه اعدام شو. د وري په ۲۹مه سردار محمدامین خان او خواجه هدایت الله خان (د هزاره جات د تنظیمیه ریاست رئیس او مرستیال یې) له دوه زره هزاره وسله والو سره د پاچا لښکر سرا یو ځای شول، خو د دربار وزیر محمد یعقوب خان ددې خنډ شو، چې د هزاره وو مشران له پاچا سرا ووینې، حال دا چې هغوی ډېر غوښتل چې خپل ارادت پاچا ته څرګند کړي. له پاچا سره یو ځای دوو تحصیل کړیو افسرانو (غلام سرور خان او عبدالاحدخان) پاچا ته وړاندیز وکړ، چې غزني کلابند پرېږدي او مخامخ په کابل ورشي. داځکه چې د وردګ، میدان او هزاره سیمو ټول خلك له پاچا سره یو

دې اد په کابل ورځي او د سقو زوی هرومرو له ماتې سره مخامخ کېږي. خو د پاچا ناوړه غرض لرونکو مشاورينو چې په پټه د دولت د پرځېدو پلويان وو، پرې نه ښودل او پاچا يې د غزني په جګړه کې ښکيل وساته.

له دې پېښې څخه وروسته د پاچا لښکرو له درې لوريو په غزني بريدونه پيل کړل. سقوي عسکر د غزني د ښار تر ديوالونو پورې وتښتېدل، د غزني په ښار باندې يوه حاکمه څوکه د پاچا عسکرو ونيوله. له دې لامله چې د پاچا له لوري د غزني نيول کېدل ډېر نږدې شوي وو، نو ځکه پټ تخريبات ډېر ګړندي شول. په هماغه شپه يو شمېر سرتيري پرته له جګړې څخه له نيول شويو او حاکمه سنګرونو څخه په شا شول، په دې توګه دښمن زړور شو. د غويي د مياشتې په لومړۍ ډېر توند باران و، نو ځکه کوم اغېزمن جنګ ونه شو. د غويي د مياشتې په دوهمه زر تنه هزاره وسله وال د پاچا مرستې ته راورسېدل، د غويي په دريمه يې باچا د نظامي غونډۍ او د پلان د جوړولو په بهانه وځنډاو او ډېر ژر يې هغه د خپلو شا و خواکسانو دننه بوخت او مصروف کړ. د غويي په څلورمه هزاره ګانو بريد خښ کړ او مهم سنګرونه يې له دښمن څخه ونيول دي پسې دوه الوتکې له کابل څخه راغلې، دا ځل يې د پاچا په اردو بمونه وغورځول، تلفات لږ وو، يواځې څو سرتيري اويو څو آسونه ووژل شول. پاچا دوه ټولي عسکر او يو توپ وردګ ته واستول، تر څو غزني ته له کابل څخه د مرستې د رسولو مخه ونيسي. دا مهال د سليمانخېلو پينځه زره وسله وال، چې لا مخکې ددې ورځې لپاره چمتو شوي و، له پکتيا څخه د سقويانو مرستې ته راغلل او په کلك بريد سره يې د پاچا ځواکونه له ماتې سره مخامخ کړل، په دې توګه د غويي په پينځمه يوه حاکمه لوړه څوکه د دښمن لاس ته ورغله. په همدې جګړه کې د پاچا د لښکر يو زړور مبارز سيد اشرف خان کندهاري ووژل شو. د غويي په شپږمه د مخالفينو بريدونه نور هم ځپنده شول او له لوړو څوکو د پاچا په اردو باندې راغلل، سره له دې چې د کندهار سرتېرو پوره مقاومت وکړ، خو په دغه شپه د ډېر قوي تبليغ له لامله او په اردو کې دننه د پروپاګند له کبله د پاچا يو شمېر سرتېرو خپل سنګرونه پرېښودل او د هرات په لوري ولاړل. د غويي د مياشتې په شپږمه شپه (۹) بجې د پاچا له لوري يو ناڅاپي امر وشو او اردو يې مخ په کندهار واړاو او روان شول. له دې وروسته پاچا خپله اراده د خپلو درباري مخالفينو د نقشې تابع وګرځوله. سره له دې، چې اردو د پاچا له نظم سره سم حرکت کاوه، خو يو شمېر غلطو او ناوړه معلوماتو د پاچا فکر مغشوش کړی و. د ستنېدلو په دغه بهير کې د غويي په لسمه ورځ له کابل څخه دوه الوتکې، چې کندهار ته تللې وې او بېرته راستنېدلې د پاچا په اردو باندې يو شمېر پاڼې وشيندلې، چې په هغو کې د سقو په ځواکونو باندې د هزاره او تګاو د خلکو د بريدونو او د سقاو په زوی باندې د پکتيا دخلکو د يرغل او د سقوي حکومت دګډوډۍ په هکله ليکنه شوې وه. اردو بېرته له معنوي پلوه پياوړې شوه او غوښتل يې، چې بېرته غزني ته ستون شي او دښمن تباه کړي، خو پاچا مقر ته ولاړ او د غويي په يوولسمه يې هسې يو نظامي مجلس جوړ کړ او غزني ته د بېرته تګ يا په مقر کې د پاتې کېدو خبره يې رامنځته کړه (يعنې کندهار ته له تګ څخه يې ډډه وکړه) درباريانو نه پرېښودل، چې غونډه پرېکړه وکړي، دغه ډول بې ګټې غونډې د غويي تر

نولسمي ورځې رواني وې. دا مهال مخالفانه تبليغاتو خپل کار کړی و. د شپې له خوا د کندهار د
تيليفون مزی پرې شو، سهار يې خبر خپور کړ، چې څلور زره تنه وسله وال سليمانخېل په اردو پسې را
را روان دي، په دې توګه يې پاچا د خلکو او هېواد د ګټو برخلاف اړ کړ، چې کندهار ته روان شي. دا
يواځې نه، بلکې د غويي په ۲۳مه يې له پاچا سره مل اته زره تنه وسله وال بې وسلې او رخصت يې کړل
د غويي په ۲۷مه پاچا له خپل منظم پوځ سره کلات پورې ورسېد. دا وخت هغه ته وويل شول، چې
سقوي درې زره وسله وال په ده پسې دي او تر "سراسپ" پورې رارسېدلي دي. پاچا د کندهار په لورې
خپل حرکت ته دوام ورکړ ترڅو، چې د مهمند پړاو ته ورسېد. له دې ځايه يې والي علي احمد خان «د غ
والي کله، چې ځان په جلال آباد کې پاچا اعلان کړی و او بيا له ماتې سره مخامخ شوی و، نو هند ته
تللی و او اوس بېرته کندهار ته راغلی و او د پاچا لښکر سره يو ځای شوی و» يې د کلات د تنظيميه
رئيس په توګه مقرر کړ او په خپله يې مخ په کندهار حرکت ته دوام ورکړ. پاچا د ۱۳۰۸ د غبرګولي په
څلورمه د (مهمند) په پړاو کې و، چې له همدې ځايه يې د افغانستان د راتلونکي غمجن برخليک او د
افغانستان په تاريخ کې وروستۍ لوبه پيل کړه. هغه کندهار ته امر وکړ، چې ملکه ثريا او دده کورنۍ په
بېړه د قلعه جديد له لارې د افغانستان له پولو واړوي او هندوستان ته ولاړ شي، يعنې د تېښتې هماغه
يواځينۍ لاره يې ونيوله، چې دده پر مخ پرانيستې پاتې وه. پاچا په خپله وروسته تر نيمې شپې په پټه
له اردو څخه روان شو او د افغانستان په پولو کې له خپلې کورنۍ سره يوځای شو او د ۱۹۲۹ کال د مې
په ۲۳مه د انګليس پولو ته ورننه شو. دې پسې وروسته هغه ايتاليا ته ولاړ او هلته تعقيب شو ترڅو
چې د ۱۳۳۹ل. کال د غويي په مياشت کې يې سترګې له نړۍ څخه پټې کړې. معين السلطنه سردار
عنايت الله خان ايران ته ولاړ او هلته يې ژوند سره مخه ښه وکړه.

د پاچا امان الله خان د سلطنت پای ته رسېدل د سقو د زوی د اغتشاشي حکومت له جوړېدو سره برابر
و، چې دغه پېښه په افغانستان کې د يو "تاريخي ناورين" په توګه بلل کېږي. په تېره بيا د روڼ اندو
لپاره دا د خواشينۍ پېښه ځکه وه، چې دوی هغه لوبې چې په افغانستان کې رواني وې اټکل کولې او
پوهېدل، چې د امانيه دولت په پرځېدو سره او د ټولنيزو تحولاتو په پای ته رسېدو سره د پرله پسې
ورانيو او ويجاړتياوو يو پلان په مخه کې و. وروسته تر دې هم ډېره ستونزمنه وه، چې کورنی استبداد
او بهرنی استعمار په افغانستان کې د اوږدې مودې لپاره راوپرځول شي، نو په هېواد کې به د مبارزو
وطنپالو ريښه له بېخ څخه وکښل شي، عمومي بېوزلي به پيل شي. د افغانستان ملي يووالی به د نفاق
د توليد له لامله او د پښتون، تاجك هزاره، ازبك سني، شيعه او په نورو نومونو به يې وحدت له منځه
ولاړ شي، په پای کې به يوه بله فضا او يو بل قشر رامنځته شي، چې د افغانستان له ګټو سره به هېڅ
اړيکې ونه لري او د نورو ساز ته به ګډېږي.

دغو ناوړه ترخو تصوراتو د روڼ اندو په طبع دوه ډوله مثبت او منفي تاثير وکړ: يعنې يوه ډله ناهيلي
شول، خو بله ډله مبارزې ته حاضره شوه. د بېلګې په توګه په فرانسه کې يوه تحصيل کړي ځوان «د
توپچي کنډکمشر محمد يعقوب خان، چې د پاچا امان الله خان په پلويتوب يې پوره خدمتونه کړي وو» او د

سفو د زوی پر مهال په همدې تور بندي شوی و، د لومړۍ ډلې روږاندو تصورات یې په زندان کې په لنډه ډول په یوه‌نثر کې په دې توګه انځور کړي وو: "ژباړه یې داده"

"زه د بدمرغۍ په دغه سمندر کې په فنا محکوم یم، فریاد، کریغې، کنځلې یا زارۍ، بُغض یا محبت، ځپې یا سستي یو یې هم ما له ډوبېدو څخه نشي ژغورلای. زه محکوم په عذاب یم، په دغه کرکجن او بوین ډنډ کې شېبه په شېبه ډوبېږم، زما ژړا کوم ځای ته نه رسېږي او ناله یا فریاد مې په هېڅ‌ا اغېزه نه کوي دلته زما شا و خوا ټول په دغه ګرداو کې له زهرجنو غشو او وژونکي نېښونو سره مخامخ دي او ټول له ما سره همدرد او هم بند دي، هر یو یې په یوه ځانګړې ډول دغه عذاب سره لاس او ګرېوان دي، ټول له ځیګریو او فریادونو سره د مرګ هیله کوي، خو په همداسې حال کې له مرګ څخه په ویره کې هم دي، سره له دې چې یو شېبه یې هم د ژوند خواږه نه ده لیدلې. په دغه جهنم کې چې زه پروت یم رڼا او هوا نشته، نارې او فریادونه له ډېر نږدې څخه هم نه اورېدل کېږي هغه دردونه چې زمونږ اروا کړوي، له ډېر نږدې څخه هم نه ښکاري، په دغه پراخه هدیره باندې چوپتیا خوره ده، دغه نه تمامېدونکې تیاره او چوپتیا دومره ویروونکې ده، چې نور ټول کړاوونه او دردونه ورته هېڅ هم نه دي، ویرې او وحشت زمونږ ټول وجود نیولی دی، بدګماني اوبدبیني راباندې کېږدې وهلې، نور نو له خپل سیوري څخه په ویره کې یاستو او خپل ورور باندې هم بدګمانه یاستو، ټول یو بل سره په کړاو کې یاستو، ټول یو بل څخه او یو بل سره په ویره کې یاستو، ټول په ګډه چیغې وهو ټول یو بل سره او له یو بل څخه ناراض او یو بل څخه کرکه‌لرو، خو مونږ ټولو یو بل سره یو ځای دغه جهنم جوړ کړی دی."

"...رښتیا او سمون، وطنپالنه او نوع پروري هسې زمونږ دود شوي کلمات دي، خو په عمل کې پرته له ویرې او کینې، رنځ، رخې او بدمرغۍ څخه بل څه نشته، هغه څه چې زمونږ شا و خوا کې دي، زمونږ د کړاو او د رنځونو د زیاتولو لپاره دي. علام علما مو له نیک څخه تښ او له نیکۍ بې برخې دي، ساتونکي په خپله غله دي. قاضي راشي، دولت د خلکو دښمن او فرهنګ د جهل مرکز ګرځېدلی او عدلیه د ظلم مرکز او د قساوت ځای دی. ټول پوهېږو او هر یو ورو ورو په دې هکله خبرې سره کوو، خو بیا هم ملا ډوله خلکو ته درناوی کوو، له ساتونکي څخه ویرېږو، قاضي ته زارۍ کوو، له دولت څخه د شفقت او مرستې هیله لرو او د ظلم د دفع کولو لپاره حکومت ته پنا وروړو، خو عالم ډوله ته زمونږ درناوی له پولیس څخه زمونږ ویره، قاضي ته زمونږ زارۍ، حکومت ته زمونږ عرضونه او عدلیې څخه زمونږ هیلې، ټول دروغ او ټګي ده او د علماوو دعا، د پولیس ساتنه او د قاضي عدالت هم تر هغو بدتر دروغ دي.

دروغ زمونږ د جهنم د اور لرګي دي، دروغ د عذاب او رنځونو ددغې کارخانې لومړنۍ ماده ده. دروغ د دردونو او آفتونو ددغې کروندې نه تمامېدونکی محصول دی، هوکې! دروغ هر ډېر حاصل ورکونکی تخم دی، چې پرله پسې د بلاګانو پر ځمکه کرل کېږي او میوه یې د ریښې، کینې، دښمنۍ، کرکې او بدبینۍ په درمند کې نور هم زیاتوالی راولي، درواغ د شیطانانو کانسرت او د عزرائیل سندره ده، چې ددغې هدیرې په ټولو برخو کې غږول او اورېدل کېږي، دروغ د دوزخیانو سندره ده.

زمونږ ژوند څه دی؟ د جهنم په اورونو کې خاندو، ژاړو، ویرېږو، ناهیلي یاستو، هیله من کېږو، راشئ کېږو او ویده کېږو، بیا ګل او په پای کې مړه شو، خو ددغه اور لمبې تل لبغړاندې دي دغه اور د تل لپاره مونږ سوځوي، آیا زمونږ راتلونکي نسلونه به هم د تل لپاره په دغه اور کې وسوځېږي؟ په اصل کې د حال په معنا کوم ژوند نشته، زمونږ ژوند سبا ته حواله شوی او د سبا په هیله یاستو، دغه سبا چې هېڅکله نه نن کېږي او ځان پسې بیا بله سبا لري، خو بیا هم همدا سبا زمونږ د هیلو غوټۍ، "سبا" یو اخیني سندره ده، چې زمونږ هیله ورته شته او زمونږ په ټول جهنم باندې خوره ده، سبا زمونږ دایمي خوشحالي ده، سبا به ډوډۍ وخورو، سبا به ظلم دفع شي، سبا به زمونږ دردونه کم شي، سبا به زمونږ دښمنان زمونږ له کړولو څخه لاس واخلي، سبا به د متروکې هغه غږ نه وي، چې زمونږ هډونه خوري، مونږ همدې سبا ته په تمه یاستو.

ددغې لیکنې هره کرښه زمونږ د جزا د قانون یو توک دی، په دغه هېواد کې بده خبره د جنایت یوه برخه ګڼل کېږي، خو بد عمل مباح دی، دلته ټول بد کارونه ترسره کېږي، خو د هغه هېڅ یادونه هم نه کېږي، ټولې ښې خبرې کېږي، خو یو هم نه عملي کېږي، د فضیلت او تقوی ناري-سورې له ځمکې څخه تر اسمان پورې دي، خو فضیحت او رسوایي هرې خوا را ورېږي. رښتیا او سمې چارې ترسره کول د درښوونځي د سبق لومړني ټکي وي، خو همدا لومړني درواغ او ناسمي ده چې زمونږ ماشومانو ته بې درس ورکول کېږي. زمونږ کټ کټ خندا د دښمنۍ او بغض یو زهرخند دی، چې هره خوا، چې ځې ځان سره وژونکې لمبې غځوي. د نورو بدمرغي او خواري زمونږ لپاره د خوښۍ سرچینه ده، سره له دې چې ظاهراً په معصومه او غمجنه څېره وایو، چې: آه بېچاره! خو په باطن کې د خوښیو ځپې زمونږ د دښمنۍ او کلک زړه اور سوي. دا د عجایبو او اسرارو وطن دی، کله چې د یو بل سر ورڅخه پرې کوو، د پلار په شان په مهربان غږ وایو:

میازار موری که دانه کش است
که جان دارد و جان شیرین خوش است

د دوهمې ډلې یو روڼ انده شاعر ددغو نړېدلو او پرځېدلو په ترڅ کې د هېواد ځوانان مبارزې ته رابولي او داسې وایي:

تا کی از جور و ستم، شکوه و فریاد کنید
سعی برهم زدن منشاء بیداد کنید
دست ما دامن تان باد، جوانان غیور
که از این ذلت و خواری، همه آزاد کنید
صد هزاران چومنت، آتش بیداد به سوخت
نه نشینید ز پا، دم بدم ارشاد کنید
فتنه انگیخته تبعیض نژادی در خلق
فکر اینده ملك خود و اولاد کنید
چندی از خوان نعم، سرخوش و شیرین کامند

Scanned by CamScanner

گربـه برفاقـه کشـان خـود و فریـاد کنیـد
خانمـان کـرد تبـه، تـا شـود آبـاد خـودش
خانـهٔ ظلـم و سـتم یکسـره برباد کنیـد
تـا شـود بـر همگـان امـن و عـدالت قـایم
عـالمی نـوز مسـاوات و حـق ایجـاد کنیـد
ای جوانـان سـم مرتجعـان چنـد کشـید
تـا یکـی رحـم بـه ایـن دسـته شیاد کنیـد
ننـگ دارد بشـریت ز چنـین کهنـه رژیـم
طـرح ویرانـی ایـن بنگـه ز بنیـاد کنیـد
آشـیان همـه مرغـان ز سـتم آتـش زد
قصـد آتـش زدن خانـهٔ صـیاد کنیـد
ندهنـد ارزش کـاهی بـه حقـوق بشـری
تکیـه بـه، بـر خـود و بـازوی چـو فـولاد کنیـد
غـازه سـازید ز خـون شـاهد آزادی را
تـا ز خـود روح شـهیدان وطـن شـاد کنیـد
سـوخت ای همنفسـان آتـش اسـتبدادم
شـرح ایـن سـوخته را بـر همـه انشـاد کنیـد
چشـم امیـد بـه تـو نسـل جـوان دوختـه ام
در خـور شـان و شـرف مملکـت آبـاد کنیـد
مـی بـرم در دل زار حسـرت آزادی را
کـاش خـاکم بـه بـر سـایهٔ شمشـاد کنیـد
شـعر مـن لالـهٔ بـاغ دل خـونین منسـت
مهوشـان زیـب لـب و حسـن خداداد کنیـد
هـر کجـا لالـه رخـی بـا قـد سـروی دیدیـد
یـک نفـس یـاد از ایـن «جلـوهٔ» ناشـاد کنیـد

**دده کتاب پای**

**۱۹۶۷ میلادي**

**م. غبار**

Scanned by CamScanner

# د اخځونو لیکلړ


- ✓ د افغانستان د حکومت رسمي احصائیې، د کابل چاپ، له ۱۹۲۱ څخه تر ۱۹۲۳ پورې (کرنیزې، اقتصادي او نورې)
- ✓ انګلند اند افغانستان، د دلیپ کمار تألیف، کلکته (په انګلیسي)
- ✓ ایدوانس هستوري آف انډیا: د ماجومدار، رای چودهری او دانا چاپ، لندن: ۱۹۴۵ کال (انګلیسي)
- ✓ اوسنی افغانستان، د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې د انستیتوت خپرونه، د مسکو چاپ، ۱۹۶۰م. کال (روسي ژبه)
- ✓ اختناق هندوستان، د ویل ډورانت اثر (د ایران چاپ او ژباړه) ۱۳۱۰ لمریز کال.
- ✓ افغانستان. دسته سارف تألیف، د مسکو چاپ، ۱۹۲۱م. (روسي)
- ✓ افغانستان. د فریزرتتلر اثر. د لندن چاپ، د ۱۹۵۰ کال چاپ. (انګلیسي)
- ✓ اوسنی افغانستان. د اقبال علیشاه اثر. د لندن طبع، ۱۹۳۸ کال (انګلیسي)
- ✓ له دارا څخه تر امان الله د جارج مکمن اثر، د لندن چاپ، ۱۹۲۹م. کال (انګلیسي)
- ✓ آریانا، د احمد علي کهزاد تألیف، د کابل چاپ ۱۳۲۱ لمریز کال.
- ✓ از چنګیز تا تیمور- تاریخ مغل- د عباس اقبال تألیف، د تهران چاپ، ۱۳۲۱ لمریز کال.
- ✓ افغانستان قرن نزدهم د سید قاسم رښتیا اثر. د کابل چاپ، ۱۳۲۹ لمریز کال
- ✓ احمدشاه بابا، زما (غبار) تألیف، د کابل چاپ، ۱۳۲۲ لمریز کال.
- ✓ د افغانستان انقلاب، د مولوي محمدحسین هندي لیکنه، د جالندر چاپ. هندوستان (د چاپ کال یې نشته) په اردو ژبه.
- ✓ امان افغان (جریده) د کابل چاپ، له ۱۹۱۹ څخه تر ۱۹۲۹ ل کال پورې
- ✓ انیس (جریده) د کابل چاپ، د ۱۹۲۷- ۱۹۲۹م. کلونو مجموعه.
- ✓ اشکال العالم (منسوب به جهانی): د علي بن عبد السلام ژباړه د کابل په موزیم کې په کتابتون کې خوندي شوی خطي نسخه.
- ✓ الامم الملوك. د محمد بن جریر طبري تألیف، د ابوعلي محمد بلعمي پارسي ژباړه د هند د نولکشور چاپ. ۱۹۱۲م.
- ✓ الکامل فی التاریخ ابن اثیر، د قاهرې چاپ، ۱۳۰۱ق. کال (عربي)
- ✓ احوال و اشعار رودکی، د سعید نفیسي تألیف، د ایران چاپ، ۱۳۱۰ ل کال
- ✓ "په افغانستان کې د آلمان د سفیرانو په توګه" د سیمکه کورت اثر. د برلین چاپ، (جرمني)
- ✓ پندنامه دنیا و دین. د امیر عبدالرحمن خان لیکنه، د کابل د موزیم په کتابتون کې ساتل شوې


Scanned by CamScanner

خطي نسخه.

- ✓ پادشاهان متأخر افغانستان د مرزا یعقوب خان خافي تألیف، د کابل طبع. ۱۳۳۴ او ۱۳۳۶ل. (لومړي او دوهم ټوکونه)
- ✓ پندنامه. د مولوي نجف علي هندوستاني لیکنه. د لاهور د کریمي مطبعه (د چاپ کال نه لري)
- ✓ "پیشرفت پلان د تحلیل اوضاع اقتصادي" د افغانستان د پلان وزارت. د کابل چاپ ۱۹۲۳م کال (دوه ټوکه)
- ✓ بحران و نجات د غلام محی الدین انیس تألیف. د کابل چاپ. ۱۳۱۰ل کال
- ✓ "پښتانه د تاریخ په رڼا کې" د سید بهادر شاه ظفر تألیف، د پېښور چاپ. ۱۹۶۵م.
- ✓ تذکره الاولیا. شیخ فریدالدین عطا . نیشاپوری د لندن چاپ ۱۹۰۷م. کال
- ✓ تاریخ بیهقي: ابوالفضل محمد بن حسین بیهقي. د کلکتې چاپ. ۱۸۶۲م. کال.
- ✓ تصوف مقارن: د استاد محمد غلاب تألیف، د قاهرې چاپ. (عربي)
- ✓ تاریخ تصوف. د ډاکتر قاسم غني تألیف، د تهران چاپ ۱۳۲۲ل. کال
- ✓ تاریخ فرشته، د محمد قاسم تألیف، د هندوستان چاپ: لکهنور. هند ۱۳۲۱ق. کال
- ✓ تاریخ سلطاني، د سلطان محمد خالص تألیف، ۱۲۹۸ق. کال چاپ.
- ✓ تاریخ سیاسي و اجتماعي ایران: د سیعد نفیسي تالیف، د تهران چاپ، ۱۳۳۵ل. کال.
- ✓ تاریخ روابط ایران د انګلیس در قرن نزدهم، د محمود- محمود تألیف د تهران چاپ ۱۳۳۶ل. کال.
- ✓ د هند تاریخ. د مارسدني اثر: ۱۹۱۰م. کال (انګلیسي) (هستوري آف انډیا فازجونیر کلاستر)
- ✓ تبریکنامه د نجف علي هندوستاني اثر. د لاهور چاپ، (د چاپ کال نه لري)
- ✓ تیلز آف تریول. د لارد کرزن اثر. د لندن چاپ. ۱۹۲۳م. کال (انګلیسي)
- ✓ تصویر اقتصادي افغانستان، د ازبکستان د علومو اکاډمي خپرونه، د تاشکند چاپ، ۱۹۵۶م. کال.
- ✓ تاج التواریخ. امیر عبدالرحمن خان ته منسوب کتاب، د بمبئ چاپ ۱۳۲۲هـ. ق (دوه ټوکه)
- ✓ تاریخ سند معصومي. د بمبئ چاپ، ۱۹۳۸م. کال.
- ✓ تاریخ نامهٔ هرات، د سیفي هروي تألیف. قاهره ۱۹۲۰م. کال.
- ✓ تاریخ یمیني، د عبدالجبار عتبي تألیف، قاهره، ۱۹۲۰م کال.
- ✓ تاریخ افغانستان (دوه ټوکه) د استاد احمد علي کهزاد تألیف د کابل چاپ ۱۳۲۵ل. کال.
- ✓ تاریخ سیاسي افغانستان. د سید مهدي فرخ لیکنه، د تهران چاپ، ۱۳۱۴ل. کال
- ✓ ترکستان- د مختار بکر تألیف، د سید رضا علیزاد ژباړه. د لاهور چاپ. ۱۹۲۷م. کال
- ✓ تاریخ سیاسي و اجتماعي آسیای مرکزی. د پروفیسر بارتولد تألیف. د علي محمد زهما ژباړه د کابل چاپ، ۱۳۴۴ل. کال.
- ✓ تمدن غرب از شرق نزدیك د هانس کن تألیف، د تهران چاپ، ۱۳۱۶ل کال

✓ تاریخ فلسفه در اسلام- د استاد ج. د. دي بورتر تألیف، د عباس شرقي ژباړه. د ایران چاپ
✓ تاریخ تحولات اجتماعي، د مرتضی راوندي تألیف، د تهران د ۳۰- ۳۱ ۱۳۴۰ کلونو چاپ
✓ تاریخ مشروطیت ایران، د باویوچ تألیف، د هوشیار ژباړه، د ایران چاپ ۱۹۵۱م. کال
✓ تاریخ قرون وسطی، د شوروي اتحاد د علومو د اکاډیمی د تاریخ د انستیتوت خپرونه د صادق انصاري او محمد باقر مومني ژباړه، د افیشن نو د مطبعې چاپ، ۱۳۴۲ل. کال
✓ تعلیم و تربیت،د صدیق عیسی تألیف، د تهران چاپ، ۱۳۲۱
✓ تاریخ روسیه. د جارج ورد ناسیکي تألیف، د امریکې چاپ، ۱۹۴۹م. کال (انګلیسي)
✓ تاریخ سیستان. (مولف نه دی معلوم) تحشیه د ملك الشعرا بهار. د تهران چاپ ۱۳۱۴ل. کال
✓ جهانکشای جویني، عطا ملك (دوه ټوکه) د لندن چاپ. ۱۹۱۱م. کال
✓ جهاد مقاله عروضی سمرقندی، تحشیه د مرزا محمدخان قزویني، د ایرانشهر د مطبعې چاپ په برلین کې. ۱۹۲۷م. کال
✓ جهانکشای نادری. د محمد مهدی تألیف د بمبي چاپ ۱۳۰۹ق. کال
✓ چچ نامه (د سند تاریخ) د علي بن حامد کوفي تألیف د ډیلي چاپ. ۱۹۴۹م. کال
✓ حدیقة الاقالیم، د مرتضی حسین بلګرامي تألیف، د هندوستان د نولکشور چاپ (کال نه لري)
✓ حدود العالم من المشرق الی المغرب (ګمنام مؤلف) د لینن ګراد عکسي چاپ، ۱۹۳۰م. کال
✓ حبیب السیر، د خوندمیر تألیف، د بمبئ چاپ، ۱۲۷۳هـ.ق. کال
✓ حیات واقعات سلطان محمود غزنوي، د ډاکتر محمد ناظم تألیف له انګلیسي څخه په دري باندې د عبدالغفور اميني ژباړه. ۱۳۱۸ل. کال
✓ د بستان مذاهب، د موبد شاه تألیف، زرتشتي، د بمبئ طبع، ۱۲۹۲هـ.ق کال
✓ در زاویای تاریخ معاصر افغانستان، د احمد علي کهزاد تألیف، د کابل چاپ. ۱۳۳۱ل. کال
✓ د پښتنو تاریخ، قاضي عطاءالله خان، د پېښور چاپ. ۱۹۴۷م. کال
✓ روحیات ملل اروپا د الفرد فوبیه تألیف د استاد هاشم شایق ژباړه.د کابل چاپ ۱۳۱۷ل.
✓ روضات الجنات اسفزاري (معین الدین محمد اسفزاري) د تهران چاپ. ۱۳۳۹ل. کال
✓ رحلته ابن بطوطه. د مصر چاپ، ۱۹۲۸م. کال (په عربي)
✓ رویداد لوی جرګه دارالسلطنه کابل- ۱۳۰۳ل. کال د کابل چاپ، ۱۳۰۴ل. کال
✓ زیدالاخبار ګردیزي عبدالحی بن ضحاك تألیف، د تهران چاپ، ۱۳۱۵ل. کال
✓ زنده ګي خواجه عبدالله انصاری، د سرژیور کولي اثر، د داکتر روان فرهادي ژباړه، د کابل چاپ ۱۳۴۱ل. کال
✓ سالنامه، کابل، د ۱۳۴۴ل. کال چاپ.
✓ سراج الاخبار، له ۱۹۱۱- تر ۱۹۱۹م. کال پورې د کابل چاپ.
✓ د کاپیتالیزم استعماری سیستم، د مسکو چاپ، ۱۹۵۹م. کال (روسي)
✓ سراج التواریخ، د مرزا فیض محمدخان کاتب تألیف، د کابل چاپ ۱۳۳۳ل. (دري ټوکه)
✓ سلسله تاریخ آسیا، امپراتوري مغل- د رونه ګروسه اثر، د احمدعلي کهزاد ژباړه. (د افغانستان د تاریخ د ټولنې خطي نسخه.)

سفرنامه حکیم ناصر خسرو، دکاویاني مطبع چاپ، برلین. ۱۳۴۰ل کال
سیاست نامه نظام الملك، د تهران چاپ. ۱۳۴۰ل. کال

## خطي سندونه

الف) شخصي سوانح: مرزا ګل محمد خان وردکی، په کابل کې د مرزا سید داود خان د کتابتون اړوند خطي اثر.
ب) د سید احمد خان شخصي سوانح، کابل په کابل کې د میر محمدشاه خان صدیقیان خطي نسخه.
ج) د کابل د چارواکو په نوم د امیر عبدالرحمن خان لاسکنبلی فرمان. د مرزا سید داودخان کتابتون.
د) زما (غبار) په کتابتون کې د امیر حبیب الله خان لاسکنبلي فرامین.
ح) د ستور العل. دامیر عبدالرحمن خان له خوا دده زوی سردار نصرالله خان ته د لندن د سفر لپاره د خطي اصل فوتو کاپي، چې زما (غبار) کتابتون کې شته.
صفاریان، د میر محمدصدیق فرهنګ اثر - د کابل چاپ ۱۳۳۴ل. کال
ضحی الاسلام. د استاد احمد امین خان تألیف د قاهرې چاپ ۱۹۳۵م. کال
طبقات ناصري منهاج السراج جوزجان - د کابل چاپ ۱۳۴۲ل. کال
ظفرنامه رنجیت سنګهـ. د امر نایته تألیف، د لاهور چاپ ۱۹۲۸م. کال
اعلام عقلی در تمدن اسلامی، د ذبیح الله صفا تألیف، د ایران چاپ ۱۳۳۱ل. کال
فظایع الادول الاستعماریه. انجلتران الهند، د آزادي شرق خپروني، د برلین چاپ (عربي)
غازي مصطفی کمال، د اګوبریت فون میکشن تألیف، د لایپزیك چاپ ۱۹۲۹م. کال (جرمني)
کابل مین سات سال، د مولوي عبیدالله سندي لیکنه. د لاهور چاپ د ۱۹۵۵م. کال چاپ (اردو)
کاوه (جریده) د ۱۹۱۲ - ۱۹۱۷م. کال پورې د کاویاني مطبعي چاپ، برلین
ګاتهای زردشت، د پور داود اثر، د بمبئ چاپ د ۱۹۲۷م. کال
ګلشن امارت د نورمحمد نوري تألیف د کابل چاپ ۱۳۳۵ل. کال
لایحه ترفیعات چهار ساله افغانستان. د رفیق مطبعي چاپ، کال ۱۳۰۷ل.
منتخب التواریخ. د حسن بن محمد المناکي شیرازي تألیف ۱۰۱۹هـ.ق خطي نسخې چې ما سره شته.
مسایل لیننزم. د استالین اثر، د مسکو چاپ ۱۹۴۹م. کال
ما در افغانستان، د انګلیسي لیدي سیل اثر، د میر عبدالرشید بیغم ژباړه، چې د شبخون افغانستان په نوم ده د کابل چاپ ۱۳۲۹ل. کال
میرویس نیکه. د عبدالرؤف بینوا اثر. کابل ۱۳۵۲ل. کال
مجمل التواریخ بعد نادریه. د ابن محمدامین ابوالحسن ګلستانه تألیف. د کابل چاپ

Scanned by CamScanner

۱۳۳۱ل. کال

✓ نظری به مشرق. تاریخ سیاسی افغانستان. د مرزا سید محمد فرخ لیکنه. د تهران چاپ ۱۳۱۴ل. کال

✓ د قاضي د کورنۍ د تصدیقونو نسخې د کوټې چاپ، (بلوچستان) د طبع نېټه نه لري (په انګرېزي ژبه)

✓ نوايي امیر علي شیر د علي اصغر حکمت اثر، د ایران د ادبیاتو تاریخ استاد د تهران چاپ ۱۳۲۲ل. کال

✓ واقعات شاه شجاع الملك ابدال. د کابل چاپ ۱۳۳۳ل. کال

✓ یاداشتهای کابل. الکساندر برنس. د لندن چاپ. ۱۸۴۴م. کال

Scanned by CamScanner

# بسم الله الرحمن الرحيم

## د افغانستان در مسیر تاریخ (افغانستان د تاریخ په تګلوري کې) کتاب په هکله د مهتمم یادونه

افغانستان د تاریخ په تګلوري کې لومړی ټوك، چې وروسته تر چاپ څخه په ۱۹۶۷م. کې په کابل کې دغه مهال د دولت له خوا توقیف شو، د تاریخي دورې له پیل څخه د شلمې پېړۍ تر دوهمې ربع (د شاه امان الله د دورې تر پای) پورې و. د افغانستان د تاریخ په تګلوري کې دوهم ټوك چې ددې کتاب وروستنی ټوك دی، د شلمې پېړۍ د دوهمې ربع له پېښو ډکو او ډېرو حساسو کلونو تاریخ (د نادرشاه د کورنۍ د حکمروایې دوره د شاه محمود خان تر سقوط پورې) بیانوي. دوهم ټوك په حقیقت کې د لومړي ټوك څه پاتې څېرکي دي، چې په هېواد کې د هغه د لیکلو پر مهال د یو کلك استبداد له لامله له چاپ څخه پاتې شوي وو.

مولف (میر غلام محمد غبار) په هغه مهال کې د دغه دوو ټوکونو د یو بل سره د ټرلتیا له لامله په دغه دوهم ټوك باندې کومه سریزه نه وه لیکلې؛ وروسته تر هغه هم دا فرصت ورته برابر نه شو، چې نورې لازمې ننبلونې ورته برابرې کړي، دلته د افغانستان د تاریخ په تګلوري کې دوهم ټوك لکه هماغسې چې مؤلف (زما پلار) را پرېښی و او ماته یې وصیت کړی و، هماغسې چاپ شو. ما د دغه دوهم ټوك په پیل کې د لومړي ټوك د سریزې یوه برخه او اهدائیه (ډالۍ) او په پای کې د مولف په هکله یو څو ننبلونې ورزیاتې کړې دي. باید وویل شي، چې د (افغانستان د تاریخ په تګلوري کې) لومړی ټوك یو ځل په کابل کې په دري ژبه شمېر سره چاپ شوی و، څلور ځله بیا له هېواد څخه بهر په پېنځلس زره نسخو کې چاپ شو. چې ټول یې لکه د افغانستان د تاریخ په تګلوري کې د اوسني دوهم ټوك په شا پرته له تحریف او بدلون څخه او د مولف د اصلي نسخې مطابق دی او د افغانستان د مبارزو او مظلومونو خلکو لومړنی علمي او واقعي تاریخ دی.

حشمت خلیل غبار

۱۹۹۹کال

## د کتاب اهداء

د افغانستان مبارزو وطنپالو ته، هغوی چې د خپل هیواد ټولنیز
تاریخي شرایط یې د ټولنې د نوي ژوند د تامین لپاره، د نړ
غورځنګونو او نهضت د لښکر تر مخې کېښودل.

**م. غبار**

Scanned by CamScanner

# مخکنۍ خبرې

سره له دې چې د بشري ټولنو د بشپړتيا په بهير کې. د تاريخ ليکلو بنې هم بشپړتيا موندلې ده او نن ورځ تاريخ ليکنه د هر اړخيز تعليل او تحليل پر بنسټ پر مخ ځي. نور نو تاريخ يواځې او يواځې د ډيرو ميرانوونکو او ناسمو پيښو او د ګوتو په شمار کسانو د کار نامو په ضبط پورې نه دی ايسار. دا ځکه چې نور هغه وختونه تير شوي دي چې انسان به د ټولنې او چاپيريال په منظر کې حيرانوونکې ځيزونه لټول او د ماورای طبيعت په بې پايه سمندر کې به ډوب و، نو په دې توګه دغه بشپړتيا او بدلون دا نه غواړي چې هرو مرو به پر هر وخت کې هماغه پخوانی کارونه سم وي. د تاريخ د تدوين عامل انسان دی او انسان بيا په خپله د خپل ځان د ټولنيزو شرايطو محکوم دی.

هغه بدلونونه چې په نوی پيړۍ کې په ټول ټولنيز ژوند کې راغلي بيلا بيل نوی ځيزونه ور ځخه پيدا کړي چې په پايله کې دل ويديزې پانګوالۍ د رامنځته کيدو لامل شوی. دا په پای کې د مليتاريزم تر سيورې لاندې په يو پراخ امپرياليزم بدل شو چې پايله يې د نړۍ د پراخو سيمو ځيبنل و، ددغه سيستم برياليتوب د انسان پر ژوند او د هغه په هنر، تاريخ او ادب باندې هم اغيزه وکړه او تاريخ نوې بڼه وموندله او لکه د .:نر په شان يې سوداګريزې جامې واغوستې.

کله چې د اروپا د نيشنليزم ناروغي له پانګوالۍ سره يو ځای شوه، د نړۍ سياسي تاريخ هم بيلارې بڼه وموندله او د بيلا بيلو هېوادونو تاريخ ليکونکو ټولې ښيګڼې خپل هېواد پورې او ټولې نيمګړتياوې په مقابل هېواد پورې وتړلې. سره له دې کله چې د اروپا نيشنليزم له ختيځو ملکونو سره مخامخ کيد. د لويو وچو د فاشيزم په ځيره کې را ځرګند شو. نور نو دوی اروپا د ازل له ورځې د نړۍ د فرهنګ او تمدن زيږوونکی او پالونکی بلله او ختيځ يې د تل لپاره وحشي او د مدنيت دښمن وباله. حال دا چې ختيځ د نړۍ تر ټولو د لرغونو تمدنونو ځای دی. دا يرغل کوونکی اروپا وه چې خپل نوی تمدن او پوهه يې د ختيځوالو د صنعتي او کرنيزې شتمنۍ د لوټ کولو او ويجاړولو په خاطر په کارولـه او د هغوی د طبيعي بشپړتيا په لاره کې خنډ شوله. البته د ختيځ خلکو د اروپا د ښکيلاک په وړاندې له مبارزې لاس وانه خيست او اوس هم په آسيا او افريقا کې ددغې مبارزې بڅرکي شته. د افغانستان خلك د ښکيلاك په ضد تر ټولو کلك دي چې له نولسمې پيړۍ راهيسې د ښکيلاک د فرهنګي يرغل او سياسي لوټنې سره مخامخ دي. موږ په آسيا کې د لويديز له دوه ډلو تاريخ ليکونکو سره مخامخ ياستو: يو يې رېښتيانی پوهان دي او بله ډله يې د لويديځ ښکيلاک پورې تړلې. لومړۍ ډله هغه کسان دي چې د ملتونو د حالاتو په څيړنه کې يې همت کړی، د ختيځ په علم، پوهه، تاريخ، فرهنګ او ژبه کې يې په ژوره توګه مطالعه

Scanned by CamScanner

کړی او د هغوی تر خاور لاندې مدنیت یې بیا را ژوندی کړی. د بشریت دغه پوهان د نړۍ د سم تمدن او کلتور حاصل بلل کېږي، د نړۍ علوموته یې خدمت کړی چې په دې لړ کې یې د بین النهرین تاریخ، د مصر، افغانستان او ایران تاریخونه لیکلي.

بله ډله هغه کسان دي چې یا اصلاً د ختیز په تاریخ نه پوهیږي او د لویدیځ د ښکیلاکګرو لیکوالو اغیزې لاندې دي او یا هم د ختیزوالو د ښکیلاك په خاطر د لویدیزوالو د سیاست په لاره کې چوپړ کوي. هغه سیاست او ښکیلاك چې د مسیحیت عصبیت او د لویو وچو فاشیستي ملاتړ ور سره او د دوی په سیاسي او اقتصادي هیلو کې یې زیاتوالی راوستی دی، پایله یې دا شوه چې د آسیا د ملتونو تاریخ د دوی د لوبو او ناوړه غرضونو وسیله شوې او هغه یې جعل او تحریف او کوږ کړی او د واقعیاتو پرمخ یې د درواغو پرده اچولې ده.

په دې لړ کې افغانستان هم تردې ډول یرغل لاندې راغلی او نړۍ ته په دې ډول ور پیژندل شوی دی: دا یو نوی هېواد دی چې د دوو ښکیلاکګرو هېوادونو یعنې انګلستان او تزاري روسیې ترمنځ د خواك د تعادل په خاطر نوي جوړ شوی دی «البته د هندوکش لړۍ او د آمو سیند او هیرمند له دغه حکم څخه جلا دي»، دغه نوی هېواد چې له زرګونو قومونو څخه جوړ دی او په هغه کې په لسګونو مذهبونه او ژبې شته، تاریخ یې له اتلسمې پېړۍ څخه نه اوړي او... او... او... دغه د ښکیلاکګرو تبلیغ او تلقین چې د هغو لپاره په تیره بیا انګریزانو ډېر زیات کتابونه لیکلي دي، وروسته بیا د نورو لویدځو لیکوالو لپاره لاربسوډ و ګرځیدل او آن دا چې زمونږ د آسیایي ګاونډیانو په لیکنو کې یې هم د یوه ساري خپریدونکې ناروغۍ په توګه اغیزه کړې ده.

خو د افغانستان خلك چې د هېواد د تاریخي بشپړتیا اصلي عامل دي، لکه هغسې یې چې د یو نیم زر کلونو په ترڅ کې د فیوډالي ضد پاڅونونو او بهرنیو ښکیلاك ضد مبارزو په ترڅ کې له ستونزمنو پړاوونو څخه تیر کړی و، په نولسمه پیړۍ کې یې هم د ښکیلاکګرو د تیریو په وړاندې منګولې ورکړې او دښمن ته د حاکمه طبقې د تسلیم کیدو او ماتې سره سره یې دښمن له هېواد څخه شړلی دی. نو څکه د فیوډالي نظام تسلیمېدل او د ښکیلاکګرو د کلکو ګوذارونو سره یو ځای د ټولنې د ژوند چارې ډېر سره مخامخ وې، په دې توګه افغانستان د شلمې پیړۍ په ترخ کې هم د نړۍ د تر ټولو وروسته پاتې هېوادو په کتار کې دی. مونږ د خپل هېواد تیر تاریخ ددې لپاره لولو چې د خپلې نن ورځې وضعیت ډېر ښه و پیژنو، تر څو د افغانستان ځوان مبارزین مخ په وړاندې د مبارزې کرښه په هوښیارۍ سره په ښه توګه غوره کړای شي، دا ځکه چې همدا تاریخ دی چې د یوې ټولنې بشپړتیایي تګلوری په رڼا کې را ښیي.

**میر غلام محمد غبار**

**د کابل ښار – جون ۱۹۶۷ م**

Scanned by CamScanner

# لومړی څپرکی

## د ارتجاع د عکس العمل پای

## ۱۳۰۸ل، ۱۹۲۹ د می له ۱۴مې څخه د ۱۹۲۹ د اکتوبر تر پنځلسمې پورې

**لومړی:**

د امانیه دولت له پرځېدو وروسته د حبیب الله کلکان (د سقود زوی) اغتشاشي حکومت کله، چې پاچا امان الله اړ کړل شو. چې افغانستان پرېږدي او د دښمن د قلمرو (هند) لارې څخه اروپا (ایتالیا) کې مېشت شي. د سقود زوی لومړنی دنده پای ته ورسېده. دا ځکه چې پرته له دغه ډول بې قکره قوت څخه ګڼچا نشو کولای، چې د امان الله خان په وړاندې په بریالیتوب سره توري ووهي. اوس نو اغتشاشي حکومت ته د وروستۍ دندې د ترسره کولو وار ورسېد. دغه دنده د سقود زوی په لاس په خپله دده له پښو غورځول او د یوه بل نوي داسې دولت جوړېدل، چې په پام کې و. په دې توګه نوی فعالیت پیل شو او بهرنیو عمالو (چې د اغتشاشي حکومت د څرخ د ګرځولو وروستۍ وسیلې وې) سرچپه تګ پیل کړ. تر هغه وخته پورې، چې امان الله خان د افغانستان دننه و، ټولې پټې لاسوهنې، سیاسي او مذهبي ښکاره او نابښکاره لاسونو د سقو د زوی ملاتړ کاوه. د قطغن د والي ژباړونکی عظیم الله خان دغه ولایت د سقو زوی ته تسلیم کړ. غلام نبي خان څرخي د یوې غولوونکې پرزه لیکنې په زور له بلخ څخه وکښل شو. یو شمېر د " خادم دین رسول الله امیر حبیب الله صاحب بیرق ساه" ملاتړي او د هغه تبلیغ کوونکي روحانیون وو. د پکتیا اعلی حاکم هندي امرالدین خان راوي اوس په شمالي ولایت کې د سقاو دزوی دنایب السلطنه سید حسین د پخلنځي د مشر په جامه کې کار کاوه. د کابل د شور بازار در مسال بابا منګل سنګهه مذهبي تعصب یوې خوا ته پرېښود د سقو د زوی تر څنګ یې هغه سره په یوه جام کې اوبه څښلې او په یوه کاسه کې یې ورسره ډوډۍ خوړله. حضرت نورالمشایخ مجددي په پکتیا کې د خپلو څو زره وسله والو مریدانو سره په کابل باندې د برید پر ځای مخ په غزني ورغلل او د امان الله خان په ضد یې امر وکړ. د وزیرو خلك هم د انګلیسانو له خوا نه پرېښنودل کېدل، چې د سقو د زوی پر ضد پکتیا ته راشي. یعنی د سقو د زوی ضد ټول فعالیتونه شنډ شول. خو همدا، چې امان الله خان له کندهار څخه مخ په کابل را روان شو، ددې لپاره چې کابل ونه نیسي، سپه سالار محمدنادر خان په بېړه له پکتیا څخه لوګر ته ورسېد تر څو له امان الله څخه مخکې کابل ونیسي. خو مخکې تر دې، چې دغه

Scanned by CamScanner

احتیاطي پروګرام عملي شي د نورالمشایخ له خوا رالېږل شوي د سلیمانخېلو ځواکونو په غزني کې په امان الله خان بریدونه وکړل. د دربار دننه سبوتاژ کوونکو په مرسته او د پاچا اردو په دوکه کولو سره یې پاچا بېرته ستون کړ.

په دې توګه د غویي شپه شپږمه پاچا ستون شو او د غویي په اوومه د لوګر په شاه زار کې غوث الدین خان په قصدي توګه فتح شوې جګړه پرېښوده او سپه سالار محمدنادرخان له لوګر څخه بېرته پکتیا ته ولاړ. همدا رنګه شاه محمود خان، چې په بریالیتوب سره تر زرغون ښار پورې رارسېدلي وو، بېرته پکتیا ته ولاړ دا، ځکه چې لا هم پاچا د بېرته ستنېدو په لاره کې و. تر څو هغه له افغانستان څخه نه وای وتلی، ددې مصلحت نه و، چې په کابل کې د سقو زوی را وپرځول شي. له پټو لاسونو پرته هم هغو کسانو، چې په ښکاره توګه پاچا ته کوهي کېندل د هغو نومونه دادي: عبدالاحدخان، ماهیار وردګي (د کورنیو چارو وزیر، احمد علي خان لودین (پخواني سفیر او والي او بیا په راتلونکي کې د اردو رئیس) د دربار وزیر محمد یعقوب خان او نور...

کله، چې پاچا د غبرګولي په څلورمه نېټه او غلام نبي خان څرخي د غبرګولي په لسمه له افغانستان څخه ووتل او امانیه دولت له ریښو څخه ووت، نو د سقاو د زوی دوهمه دنده هم پیل شوه. دغه دنده دا وه، چې هېواد باید د یوه بل رژیم منلو ته چمتو کړي. ددغې دندې ترسره کول د استعماري شعوري عمالو په لاس په مرکز او ولایتونو کې د سقو د زوی حبیب الله په شان د یو ساده او مسلمان سړي او د هغه صادقو ملګرو په لاس اجرا کول کوم ستونزمن کار نه و، په دې توګه په چټکۍ سره وضعیت سرچپه شو او د څلور میاشتو ترڅ کې نقشه تر پایه پورې تطبیق شوه. هغو خلکو چې څه نا څه پنځه میاشتې د سقو د زوی ملاتړ کاوه، هغه یې "د خادم دین رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم)" په نوم ټولنې ته ور پېژاند، دادی اوس هغوی ټول سره یو لاس شول او هغه غل، غدار او د افغانستان دښمن بولي. نور نه کوم ملا ددغه خادم دین نوم په نیکۍ یاداوه او نه هم خواجه بابوخان، ملك میرعلم خان او نه هم بابا منګل سنګه او نورو، دوی ټول اوس د پخوا په شان د سقو د زوی صادق خدمتګاران نه وو. یواځې یو څو تنه که د اتلولۍ او وفادارۍ د احساس له مخې ورسره پاتې وو. دهغوی ځای د سقو د زوی تر څنګ د دار رسۍ وه لکه شیر جانخان، محمد صدیق خان صاحبزاده او د سقو د زوی نور ملګري.

په ریښتیا سره هم دغه سیاسي نقشه په افغانستان کې په رومي مهارت سره تطبیق شوه. لکه د ستیج بر سر یوه ډرامه چې بې له ستونزو پر مخ ځي. سره له دې د زمینې د جوړولو لپاره یې لس کلونه تېر شول، البته د انګلیس دولت نه غوښتل، چې د سرو زرو مرغۍ (هند) تر څنګ یو مترقي او پیاوړی او هغه هم د برتانیا د امپراطورۍ ضد افغانستان وجود ولري. د انګلیس ددغې سیاسي غوښتنې څخه کوم شي مخه نیولای شوه؟ البته یو پوخ، رسېدلی او تجربه لرونکی دولت، چې افغانستان دننه ټولنیزه رهبري په لاس کې ولري، دا ځکه چې د یوې ټولنې د لارښوونې لپاره یواځې ښه نیت لرل کافي نه دي، بلکې ډېر ښه عمل کوم هم په کار دی. باید اعتراف وشي، چې د افغانستان د هغه مهال تاریخي او ټولنیز شرایط د اقتصاد او فرهنګ لپاره او همدا رنګه سل کاله په انزوا کې د پاتې کېدو له کبله او بل دا، چې

Scanned by CamScanner

جغرافیاوي موقعیت یې دغه هېواد له یو ډېر ستونزمن دریخ سره مخامخ کړی و. په دغه ډول شرایطو کې د یو کافي او بسنده دولت جوړېدل د یوې معجزې د پېښېدو مثال درلود. په تېره بیا چې د انګلیس خور سیاست نه یواځې په افغانستان کې هر نبوغ له منځه وړ. بلکې د هغه د طبیعي او تدریجي ودې، پرمختګ مخه یې هم نیوله. په افغانستان کې به څوك نه پوهېږي. چې ولې د امیر دوست محمد خان دولت له شلو کالو څخه زیات آرام دوام وکړ، خو زمان شاه او امیرشیرعلي خان دولتونه په څو لنډو کلونو کې وپرځېدل. یا هم دا. چې امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان څلویښت کاله سلطنت وکړ او امان الله خان په لسو کالو کې له منځه ولاړ؟ دا ځرګنده جز ده. چې افغانستان په بهرني سیاست کې تل د انګرېزانو تر بریدونو لاندې و دا. ځکه چې افغانستان په ختیځ کې په یواځیتوب سره خوا په خوا له دغه بهرني نفوذ لاندې و. چې د روسیې د تزاري دولت سیاست او بیا د شوروي اتحاد سیاست هم هغه وخت کې په افغانستان کې د انګلیسانو د سیاست په وړاندې په تدافعي حالت کې و. حال دا چې په افغانستان او منځنۍ اسیا کې د انګرېزانو سیاست تل تعریض حالت درلود. نو افغانستان باید د انګرېزانو د تعریض سیاست په وړاندې په یواځیتوب مقابله کړې وای، چې دا دروند بار باید د افغانستان خلکو د ملا ماتوونکو زیانونو په زغملو سره منلای وای تر څو یې خپل ملي استقلال او هویت ساتلای وای.

که چېرې د امانیه دولت سیاسي تیروتنه هم په پام کې ونیسو. نو د انګرېزانو وروستی ګوزار په هېواد باندې د اټکل وړ او هرومرو پېښېدونکی و. نه کومه ناڅاپي پېښه یا تفریحي اتفاق. دا ځکه چې په نړیوال سیاست کې تیروتنه د عفوې او سترګې پټولو وړ نه ده. یو پیاوړی دولت خپل سیاست په مقابل لوري باندې مني، خود د مقابل لوري د مخ اړولو په صورت کې جګړه ورسره پیل کوي. که دا جګړه نظامي وي یا سیاسي. البته د یو ملت د ملي حقونو په دفاع کې (که کوچنی هېواد هم وي) چې لکه افغانستان غوندې زړور او مېړني خلك ولري دا اجازه شته، چې د نظامي جګړې تر پای پورې کلك ولاړ وي اګر که په جګړه کې مغلوب هم شي، دا ځکه چې د پیاوړي تېري کوونکي په وړاندې په جګړه کې مغلوبیت د یوه ملت ویاړ نه راکموي، بلکې دهغه په ویاړونو ور اضافه کوي. هغه څه. چې د یوه ملت رښتیانې ویاړونه راکموي، هغه تیری کوونکی دښمنۍ ته مخکې د تورې تر را ایستلو تسلیمېدل دي. ښکاره خبره ده، چې د استعماري ځواك په وړاندې د یوه ملت دوامداره مبارزه په پای کې د تیري کوونکي د ماتې لامل او د دغه ملت د بریالیتوب سبب کېږي.

خو امانیه ځوان دولت، چې د روسیې، ترکیې. پولند او جرمني له نویو دولتونو سره یو ځای رامنځته شوی و. له هغو ټولو څخه بې تجربې، د لږ پوهې او سرې سینې لرونکي وو. نو ځکه یې یو شمېر سیاسي تیروتنې وکړې. چې پایله یې د افغانستان په زیان شوه.

په هماغه پیل کې له شوروي سره معامله، چې ډېره توده پیل شوې وه او د افغانستان دولت له انګرېزانو سره د نږدیوالي په پرتله له شوروي سره نږدې کېدل غوره بللي وو. پاچا امان الله خان د یوې کوچنۍ نظامي مرستې په بنه د بخارا د پاچا سید عالم خان ملاتړ وکړ. دا یواځې نه بلکې د افغانستان دولت له

نامتو انور پاشا سره چې ترکستان ته راغی او عام صلا یا د پان تورانیزم غږونه یې کول. له هغه سره یې اړیکې ونیولې. حال دا چې انورپاشا او سیدعالم دواړه ماتې خوړلی خلک ول. یو یې افغانستان ته راغی بل یې هلته مړ شو. خو پایله یې یواځې دا شوه، چې شوروي له افغانستان څخه خپه شو. خو د هغه مهال سیاست او شرایط ددې لامل شول. چې د شوروي او افغانستان تر منځ دغه کوچنی خړپړتیا ژر له منځه لاړه شي.

له بلې خوا اماني دولت د هندوستان د خپلواکۍ غوښتونکو فعالیتونه او د هند غورځنګونه د برتانیا د امپراطورۍ د واکمنۍ په وړاندې د خپل وس له اندازې زیات تر ملاتړ لاندې ونیول تر څو هغوی نیمه وچه خپلواکه کړي او په څرګنده یې د افغانستان ختیزو برخو (دهندوستان لویدیځ) کې وسله او پیسې ورکولې

د انګلیس دولت د افغانستان دننه او په ختیزو پولو کې د بر کلك او ویجاړوونکي فعالیتونه پیل کړل انګرېزانو په دغو فعالیتونو کې له اشرافو، روحانیونو، ارتجاعي ځواکونو او خپلو پخوانیو دوستانو څخه مرسته غوښتله، نو ځکه دافغانستان په اداره کې دننه سره یو موټی شول. له یوې خوا یې د دولت د دستګاه دننه او د لوړو پوړو چارواکو په دریځ کې فساد او ګمراهي پراخه کړه او له بلې خوا یې په ټول هېواد کې د ځوان دولت او پاچا پر وړاندې پراخه تبلیغات پیل کړل.

پریشان او ګډوډ دولت هم درد. درد له ملت څخه را لېرې شو او مخ په ځوړ روان شو تر څو. چې بېخي وپرځېد او انګرېز له دایمي پریشانۍ څخه د افغانستان له لوري ډاډه شو. د انګلیس دولت په دې باندې پوهېده، چې د هغه امپراتوري د افغانستان له نظامي نیولو څخه ناتوانه او د افغانستان د بشپړ خپلواکي نشي ورڅخه اخیستلای (دا ځکه چې د افغانستان خلکو په ۱۹مه پېړۍ کې د خپلو دوامدارو مبارزو او پاڅونونو په ترڅ کې برتانیا ته نظامي ماتې ورکړې وه) نو ځکه د انګلیس موخه دا ده، چې په افغانستان کې داسې یو دولت را ولي، چې په دغه هېواد کې اختلال وي او بهرنی سیاست یې د امان الله خان د سیاست سرچپه وي او ظاهري خپلواکي ولري، یعنې له شوروي اتحاد سره له نژدې کېدو څخه ډډه وکړي او انګلیسي دولت سره یو اړخیز نږدېوالی ولري. په عین حال کې یې غوښتل، چې نوی دولت باید دومره مرتجع وي، چې په هېواد کې د هر ډول بدلون او ترقۍ او د هېواد د یو موټي والي مخه ونیسي. په کورني او بهرني سیاست کې د افغانستان د ځوان واکمن بې تجربې او د یو شمېر لوړ پوړیو مامورینو خیانت د انګلیسي دغه هیله په افغانستان کې پوره کړه. دولت تیروتنې وکړې او ملت ورڅخه خپه شو، نو ځکه یې د رژیم له ملاتړ څخه لاس واخیست. په دې توګه د اړو دوړ ناورین او هغه هم د یوې رندې ډلې په لاس پیل شو. البته دغې ډلې د پخواني رژیم پوهه او توانایي نه لرله. چې لکه د امانیه دولت په شان وکولای شي لس کاله عمر وکړي، نو ځکه یې عمر له لسو میاشتو څخه کم او هغه هم د دوو رژیمونو تر منځ د یوه پله په شان و، چې یو یې امانیه انقلابي رژیم او بل یې نادریه محافظه کار او ارتجاعي رژیم و او بس.

# د دویم اغتشاشي حکومت راپرځېدل

په هر حال، کله چې پاچا امان الله خان له افغانستان څخه ووت، د سقاو د زوی د پیاوړي کولو پړاو هم پای ته ورسېد، په دې توګه د هغه د راپرځولو پړاو پیل شو. پاچا په ۱۳۰۷ ل کال کې د مرغومې په ۲۴مه (د ۱۹۲۹ د جنوري په ۱۴مه) له کابل څخه کندهار ته ولاړ. د ۱۳۰۸ ل کال د غویي په شپږمه د غزني له جګړې څخه په شا شو او د ۱۹۲۹ د مې په ۲۳مه (د ۱۳۰۸ ل کال د غبرګولي په څلورمه) له افغانستان څخه ووت، په دغه موده (څلورو میاشتو او لسو ورځو) کې د سقو زوی وکولای شول، چې د ډېرو لاسونو په مرسته، د بدخشان، قطغن، میمنې، هرات، کندهار او کابل ولایتونه ونیسي، خو په هزاره جات کې لا هم د امان الله خان د ورور امین جان او خواجه هدایت الله خان او یو شمېر سیمه ییزو مشرانو تر لارښوونې لاندې یو سیمه ییز ځواك په مدافعوي حالت کې پاتې و، خو دغه ځواك اغتشاشي حکومت ته کوم لوی ګواښ نشو پېښولای، بلکې په پای کې نیم هزاره جات بیعت وکړ او امین جان هند ته ولاړ. په او په عین حال کې د اغتشاشي حکومت پلویانو ددې مخه نیوله، چې پاڅون کوونکي د سقو د زوی پر ضد پریکنده ګام اوچت کړي، همداسې یو وضعیت په پکتیا کې هم و. د بېلګې په توګه کله چې په ننګرهار کې والي علي احمدخان خپل حکومت اعلان کړ، سره له دې چې یو شمېر پلویان یې هم لرل، خو بریالی نه شو، دا ځکه هغسې دولت، چې وکولای شي د امان الله خان د دولت ځای ونیسي، په پکتیا کې د جوړېدو په حال کې و، نه په ننګرهار کې، نو ځکه د علي احمدخان په ضد د پر توند تبلیغات په ټول ولایت کې پیل شول او هغه یې په بد اخلاقۍ او شراب څښلو تورن کړ. د هغه په پلویانو کې هم په خوږیانو، شینوارو او مومندو کې د بې اتفاقۍ اور ولګېد، نو ځکه یې د (ملا عمر د سمڅو) په سیمه کې ځواکونه خواره واره شول او د شینوارو مرستندوی ځواکونو د مخالفینو د تبلیغاتو له امله له والي سره د مرستې پر ځای هغه سره دښمني پیل کړه، کله چې د هغه دوستانو (ملك محمدشاه او د ملك محمدجان) له خوږیانو څخه د والي مرستې ته وسله وال ځواکونه را ټول کړل، مخالفو لاسونو د دغوی تر منځ بې اتفاقي واچوله، چې دواړو فیودالانو یو بل ووژل او ځواکونه یې لا والي ته نه وو رسېدلي، چې تیت او پرك شول. د ننګرهار د اماني پوځ قوماندان محمدګل خان مومند او کونړي کنډك مشر سید حسن خان د والي د مخالفو ځواکونو په سر کې ولاړ وو، په پای کې والي له خلکو لرې شو او لغمان ته او ورپسې کونړ ته وتښتېدل. هلته یې وغوښتل چې له سره خپل فعالیتونه را پیل کړي، خو مخالفینو د یوې ټاکلې نقشې له مخې خپل کارونه پر مخ بیول، هغه پسې ي تبلیغات جارې وساتل او دا خل یې د شرابو یو بوتل خلکو ته ښکاره کړ او دا یې د والي د فجورو اعمالو نښه ګرځوله، خو والي دغه قدر طلب شخص د تاج او تخت د نیولو لپاره دومره بې هوښه و، چې شرابو ته اړ نه وو. هغه په هماغه ورځ، چې په کابل کې پاچا امان الله خان استعفا اعلان کړه (د ۱۹۲۹ د جنوري ۱۲مه) یوه ورځ

Scanned by CamScanner

وروسته یې خپل سلطنت اعلان کړ. بیا تر هغې ورځې پورې، چې په کندهار کې بندي شو، د خلکو غولونې لپاره یې یوه ورځ هم خولې ته هېڅ ډول شربت هم نږدې نه کړ، ده به خلکو تر مخې او آن د دولتي ودانۍ له پاسه اودسونه کول او په جماعت سره به یې لمونځونه کول.

په هر حال به والي، چې د یو ځواکمن سیاست تر متروکو لاندې راغلی و، له کونړ څخه د پېښور په لاره کندهار ته ولاړ او کله، چې د ۱۹۲۹م. کال د می په ۲۳مه پاچا له افغانستان څخه ووت. یو ځل بیا یې د خپل سلطنت اعلان وکړ، خو دا ځل ونیول شو، کابل ته یې راوست او دلته یې اعدام کړ. ځله یې، چې هغه لاس او پښې تړلی او لوڅ سر (مخکې له وژلو) خلکو ته د ښودنې په خاطر د کابل په بازارونو کې ګرځاوه، هغه په هماغه پخوانۍ مردانه قیافې او تاو شویو بریتونو سره بې پروا ګامونه اوچتول او کابلیانو ته یې خندل. هتې والو او په لارو تلوونکو خلکو سره له دې، چې د هغه پخوانیو کارونو ته په ښه سترګه نه کتل، خو د هغه د نن ورځې د مرګ په وړاندې زړورتوب اور شارت ته یې په درنښت وکتل او هغه په شاباسونو بدرګه کړ، تر څو چې د توپ غړ واورېدل شو (هغه یې توپ ته وتاړه او په هوا کې یې ټوټه ټوټه کړ) البته دا یواځې د والي علي احمد خان برخلیك نه و، بلکې د ټولو همدا حال و، چې د افغانستان د سلطنت فکر یې درلود او په دغه لابه کې یې د ګام اوچتول په پام کې و، لکه هماغې چې پاچا امان الله خان او سردار حیات الله خان معین السلطنه د سقو د زوی په لاس له افغانستان څخه وشړل شول او سردار حیات الله خان عضوالدوله د سقویانو په بند کې مړ شو.

## د پکتیا جبهه

خو د پکتیا په ولایت کې، چې د باچا امان الله خان له وتلو څخه وروسته د اغتشاشي حکومت ضد یواځینی مهم مرکز و، د سقو زوی دلته له هماغه پیل څخه یو شمېر پلویان لرل. د بېلګې په توګه د کټواز او زرمت خلك او سلیمانخېل د نورالمشایخ مجددي تر لارښوونې لاندې د امان الله خان په وړاندې له اغتشاشي رژیم څخه ملاتړ وکړ او احمدزي د میرغوث الدین خان په مشرۍ د امان الله خان ضد اړ و دوړ کوونکو پلویان وو. ځدرانو او سهاکم هم په پکتیا کې د سقوي حکومت ملاتړ کاوه او د پکتیا د پوځ قوماندان جنرال محمد صدیق خان صاحبزاده هم د اغتشاشي حکومت یو مهم غړی و. کله چې پاچا امان الله له افغانستان څخه ووت، د هغه پلویان او په تېره د ولایت اعلی حاکم عبدالحکیم خان بارکزی بې مرکزه او بې هدف پاتې شول. کله چې محمدنادر خان د فرانسې له نیس څخه د هندوستان په لاره د ۱۹۲۹ کال د مارچ په اتمه پکتیا ته راغی، نو په ځاځیو کې سقوي ضد یو مهم مرکز جوړ شو. یو شمېر فعال خلك دغه مرکز ته ور ټول شول، لکه ملتاني مهاجر الله نواز خان (چې وروسته بیا د پاچا یاور، بیا وزیر او ورپسې سفیر شو) هندوستاني ګاډیوان قربان حسین، چې خانته یې سید عبدالله شاه جي مستعار نوم غوره کړ (بیا په نایب سالار مشهور شو)، مرزا نوروزخان (چې وروسته بیا سرمنشي وزیر او بیا سفیر شو)، عبدالجلیل خان، نواب خان لوګری، عبدالغني خان سرخابی، عبدالغني خان ګردیزی (چې وروسته بیا د ارګ قلعه بېګ او بیا د کندهار والي شو)، حاجي

Scanned by CamScanner

مرزا محمد اکبر خان یوسفی (چې وروسته بیا د سوداګرۍ وزیر شو) او څو تنه نور. دغه مرکز غوښتل، چې اغتشاشي حکومت ړنګ شي، خو د امان الله خان د بېرته راتګ پلویان هم نه وو. دوی خپله غوښتل، چې نوی حکومت جوړ کړي، خو بیا هم دوی دغه خبره په خوله نه کوله تر څو چې دوی په کابل کې سلطنت اعلان کړي.

په هر حال، د نادر خان فعالیت سره له دې د نورو سیالانو په پرتله څواکمن و، د ورځې د سیاسي شرایطو تر اغېزې لاندې اړ شو یو څه لوړې ژورې ووهي، یعني تر څو چې پاچا امان الله خان په افغانستان کې و، د سلطنت نیول ورته ستونزمن و، کورنیو او بهرنیو پټو لاسونو نه غوښتل، چې سقوي حکومت د پکتیا یا کوم بل قوت په زور مات شي دا، ځکه چې یوائې همدا د سقو د زوی زړوره ډله وه، چې کولای یې شول، چې د مترور او د حشت له لارې پرته له دې، چې کوم کوم د کورني یا بهرني سیاست غوښتنې په پام کې ونیسي، تر وروستیو شېبو پورې د پاچا په وړاندې جګړه وکړي، حال دا، چې نور کورني څواکونه او په خپله نادرخان هم د ګڼ شمېر دلایلو له مخې په دې نه توانېدل، چې مخامخ د پاچا په وړاندې ودرېږي، نو ځکه تر څو چې پاچا له افغانستان څخه نه و وتلی، په پکتیا کې دسپه سالار هڅې له ناکامۍ سره مخامخ کېدې. د سیمه ییزو اختلافاتو اور بل و، د لګښتونو لپاره پیسې ډېرې لږ وې، نورالمشایخ او سلیمانخېلو له نادر خان سره مرسته نه کوله او میرغوث الدین خان او احمدزیو هم هر ډول ورانی کولای شو، څو ځله حاجي محمداکبرخان یوسفي (پخوانی د ډیلي جنرل قونسل او راتلونکی د سوداګرۍ وزیر) د نادرخان د استازي په توګه څو ځله هند او د انګلستان تر پولو پورې سفرونه وکړل او غوښتنه یې وکړه، چې هند دې له پولو څخه هاخوا د مسعودو او وزیرو د مرستو مخه له نادرخان سره نه ډب کوي، خو وایسرا دغه استازی ونه مانه او ورته یې ویل، چې ستاسې د خبرو موضوع لپاره چنار په پولیتکل اجنت پورې اړه لري (هغه میکانیکي، چې وروسته بیا د نادر شاه په دربار کې د انګلیس مختار وزیر وټاکل شو) میکانیکي هسې په خبرو کې ځنډ راوست او ځینې وخت به یې ډېر سوړ چلند کاوه او په انګرېزي تکبر سره به یې خبرې کولې، د بېلګې په توګه یوه ورځ یې چې له خپل کور څخه بهر قدم واهه، کتل یې چې یوسفي نوی له سفر څخه د ور رسېدلو په حال کې دی. هغه میکانیکي په افغاني جامو کې نه و لیدلی، نو میکانیکي خپله وربانډې غږ وکړ او په پښتو ژبه یې په سپکاوي سره ورڅخه وپوښتل:

(حاجي صاحب! نادرخان هم راغلی؟) دا هغه مهال و، چې پاچا لا په کندهار کې و او په پکتیا کې د سپه سالار هڅو د سقویانو په وړاندې کومه پایله نه لرله.

د نادرخان او د پکتیا د هغه مهال د وضعیت د پوهېدلو لپاره د نادرخان په خپل لاس دغه لیکل شوی لیك او لاسلیك څخه یې له ځائیو څخه یې کتواز ته د حضرت فضل عمر خان نورالمشایخ په نامه استولی و، جاج اخیستلای شو:

"د ۱۳۴۸ق. کال د صفرې شلمه- جناب محترم معظم حضرت صاحب ته په اخلاص سره. ددغه ولایت احوالات زمونږ د لښکر لپاره کله غالب او کله مغلوب دي، مګر سقویانو ته ډېر زیانونه اوړي. ډېره

هیله لرو، چې تاسې صاحب به د هغه غیرت او حمیت له برکته چې لرئ یې دغه جاهل ملت ته به ماتې ورکړئ تر څو خدای دغه توپاني بېړۍ د مراد ساحل ته ورسوي، نور نو څه عرض کړم. محمد نادر مخلص"

په یوه بل لیك کې سردار شاه محمود خان (دنادر خان ورور) چې نورالمشایخ ته یې له څاجیو څخه کتواز ته لېږلی و، داسې لیکلي وو:

"د ۱۳۴۸ ق. کال د ربیع الثاني پنځمه- پاملرنه نه کوي؟ مونږ څو ورونه (سپه سالار شاه ولیخان او شاه محمود خان په پکتیا کې محمدهاشم خان په ننګرهار کې) تر نن ورځې پورې مو، چې له وس پوره وو، هغه مو وکړل که چېرې تاسې هڅه ونه کړئ، مونږ هم ستومانه کېږو او افغانستان او زمونږ کورنۍ او ستاسې کورنۍ برباد پرې. ستاسې مخلص شاه محمود"

(دغه دوه لیکونه د سپا سالار د رسایلو په جزوه کې د حضرت فضل محمد خان شمس المشایخ مجددي د زوی ښاغلي محمد معصوم مجددي اړونده ضبط دي)

خو همدا، چې پاچا له غزني څخه د ۱۹۲۹ م. په اپریل (۱۳۰۸ل د غویي په شپږمه) کې په شا شو او بیا ورپسې بېخي له افغانستان څخه د همدغه کال د مې په میاشت کې (د غبرګولي په څلورمه) ووت، نو پخوانۍ نقشه په افغانستان کې بدله شوه. د بېلګې په توګه پاچا د غویي په شپږمه پرته له نظامي ماتې څخه او یواځې د دربار د یوې دسیسې په ترڅ کې له غزني څخه بېرته ستون شو او غویي په ۲۵مه د سقو د زوی استازي (کوهاټي مهاجر عبداللطیف) په پکتیا کې نادرخان ته ورغی، چې مفاهمه او ددغه جواره ورسره وکړي.

د غبرګولي په څلورمه پاچا له افغانستان څخه ووت او د غبرګولي په پنځمه یو ځل بیا د سقو د زوی استازی او لیك (د نادر خان د تره د زوی علیشاه خان په لاس) پکتیا ته ورسېد، چې په هغه کې یې له نادر خان څخه د روغې- جوړې او د دولت په چارو کې د ګډون هیله کړې وه، د غبرګولي په ۲۳ مه احمدزیو، توتاخېلو او د میزکې منګلو د سقو د زوی ملاتړ پرېښود او د نادرخان پلویتوب یې پیل کړ.

د چنګاښ په میاشت کې د سقو په ضد یوه نوې پټه نظامي نقشه جوړه او عملي شوه، هغه داسې وه: لوړه داسې هواره شوې وه، چې باید د اغتشاشي حکومت نظامي زړور ځواکونه باید د ننګرهار او پکتیا لورې ته را وایستل شي. تر څو کابل خپل دفاعي ځواك له لاسه ورکړي، او دا مهال به د پکتیا له لورې یو پرکنده او ځېونکی برید ترسره او دښمن به له منځه ورل کېږي، په تېره بیا چې دا مهال د جنګ وزیر سیدحسین لا مخکې له مرکز څخه لرې او د هېواد په شمالي ولایونو کې بوخت و، تر دې وخت چې حضرت نور المشایخ د سلمانخېلو د ځواکونو لارښودنه په لاس کې لرله. ویې کولای شول، چې هغوی د پخوا برخلاف له نادرخان سره له مخالفت څخه او د سقو زوی سره له یو ځای کېدو څخه واړوي او ددې دواړو پر ځای یې په ناپېیلي توګه له میدان څخه وباسي. په خپله ګردیز ته ولاړ تر څو هلته د نادرخان ورور شاه ولي خان سره خبرې وکړي.

Scanned by CamScanner

داغتشاشي حکومت ځواکونو چې د غبرګولي په ۲۳مه د جنرال محمد صدیق خان صاحبزاده تر قوماندې لاندې په ګردیز برید کړی و، په برید کې یې ماتې خوړلې وه او په خپله جنرال هم تېښتې شوی و. داخل یې د چنګابنه په درڅلورمه په ګردیز باندې یو بل ځواکمن برید پیل کړ، خو د جبهې قوماندانان شاه ولي خان وتښتېد، پوځ یې له سقوي ځواکونو سره په ګردیز او هغه شا وخوا په جګړه اخته پرېښود، دغې بوختیا په کابل کې د سقو تر پرځېدو پورې دوام درلود. کټ مټ همدا پېښه په پټه توګه په ننګرهار کې هم وشوه. په داسې حال کې، چې د نادرخان ورور (محمدهاشم خان) له یو شمېر نورو فعالو نېږو سره په ننګرهار کې له یوې مودې راهیسې یو څه فعالیتونه کړي وو او هرې خوا ته یې پوره ځواکونه ځای پر ځای کړي، په تېره بیا ګڼ شمېر خلکو د نادر خان د ملاتړ لپاره ځانونه برابر کړي وو. د بېلګې په توګه د چکنور ملا صاحب، پاچاګل خان، محمدګل خان مومند، سید حسن خان کنډک مشر (کونړی)، مرزا پاینده محمد خان، حبیب الله پاچا، سیداحمد پاچا، سید حبیب پاچا، سیدعبدالحمیدپاچا، فرقه مشر خان، زمان خان، محمدامین خان، عبدالرزاق خان او نورو له همدې لامله کله، چې محمدهاشم خان په پولو کې تورخم ته را ورسېد. د پاچاګل خان تر مشرۍ لاندې دولس سوه تنه مومند او شینواري د هغه هر کلي ته ورغلل. د چکنورو ملا صاحب په چکنورو کې ورته لویه میلمستیا جوړه کړه، په دې پسې وروسته سیمه ییزې شخړې تولې پای ته ورسېدې. د پاینده محمدخان جبارخېل او سعیدالله خان مستي خېل دښمني، (دولتشاهي دخلکو شخړه له حاجي دولت خان سره او سره رود د خلکو دښمني له خوږیانیوالو سره او داسې نورې شخړې له منځه ولاړې او په روغې جوړې سره پای ته ورسېدې. دوی ټولو د شینوارو، مومند، روداتو، چپرهاریانو او نورو خلکو په ګډون په لویه جرګه خپل پیوستون وښود. د محمدګل خان مومند په مشرۍ یو پلاوی پکتیا ته واستول شو تر څو هلته، اغتشاشي حکومت په وړاندې یوه متحده جبهه جوړه او د دواړو ولایتونو فعالیتونه همغږي کړي.

کله چې محمدګل خان خان له نادرخان همداسې هم شاه جي سید عبدالله لا مخکې د همدې موخې لپاره چنګابښ په لسمه له پکتیا څخه ننګرهار ته تللي وو او دا مهال بېرته پکتیا ته ستون شو. له نوې نقشې سره سم د اغتشاشي حکومت پام یې ننګرهار ته راواړاو. محمد ګل خان مومند ته دنده وسپارل شوه، چې د خوږیانیوالو له ځواک سره د کابل په لوري د جګړیوتر څلي پورې (کابل ختیځ جبهې ته) ځان ورسوي. دغې جګړې یواځې د خرپ او ترپ بڼه لرله، د چنګابښ په ۲۹مه پیل شوه، خو د ننګرهار ځواکونو ماتې وخوړه او وتښتېدل. محمدګل خان مومند، خان زمان خان فرقه مشر، عبدالرزاق خان محمدزائي، سید عبدالحمید پاچا او سید حبیب پاچا سره یو ځای پکتیا ته ولاړل، چې هغه ځای سیاسي او نظامي منځمکه وه. په داسې حال کې، چې د محمدګل خان مومند، ماتې خوړلو له کبله د ننګرهار ټول خلک په غوسه وو، یو شمېر غونډې یې جوړې کړې، خوږیانیوال یو ځل بیا سره راټول شول او شا وخوا خلکو زر تنه داو طلب وسله وال ورکړل، ددغو داو طلبانو مشرتوب د محمدهاشم خان له خوا امیرمحمد خان نورستاني ته وسپارل شو. ملك جیلاني خان چپرهاري، چې د امانیه دولت یو

Scanned by CamScanner

مخالف سړی و، له شینواري مشرانو او حصار شاهیوالو سره لاس یو کړ او ځان یې پر کابل باندې برید
کولو ته چمتو کړ. د اپریدیو استازي (سید انور پاچا) محمد هاشم خان ته ورغی او په کابل باندې یې د
اپریدو د برید د چمتوالي ډاډ ورکړ. خوږیانیوالو محمد هاشم خان ته وړاندیز وکړ، چې کنډک مشر
سید حسین خان د خپل مرستیال په توګه وټاکي او محمدګل خان مومند تیزین ته واستوي (دا مهال
محمدګل خان مومند د نویو خبرونو د راوړلو لپاره ننګرهار ته رسېدلی و). سره له دې، چې د ننګرهار
خلکو وبولې حر ... خو محمدهاشم خان نه غوښتل، چې د نقشې برخلاف دې پر ژر په کابل برید
وکړي. دا ځکه چې داسې پېښل شوې ... ته له پکتیا څخه وي. دا ځکه چې نادر خا
هلته و. له بلې خوا پکتیا کابل ته نږدې وه. محمدهاشم خان اپریدو ... مومندو ... چې تر بل امر
پورې په خپل ځای پاتې وي، خو دا بل حل امر هېڅکله ونه شو. ددې پر ځای د اغتشاشي حکومت
ملګرو او پلویانو له سقو څخه وغوښتل، چې په ننګرهار برید وکړي او دا یې هم ورته وویل، چې خلک
تسلیم کېدو ته حاضر دي. په دې توګه د سقو د زوی ځواکونه مخ په ننګرهار راغلل. دده ځواکونه په
ګندمک او سره رود کې د ځلور ورځنۍ جګړې په ترځ کې د خوږیانیو ځواکونه چې د جګړې له اصلي
نقشې څخه بې خبره ساتل شوي وو، له ماتې سره مخامخ کړل. محمدهاشم خان سپین غره او محمدګل
خان مومند پکتیا ته وتښتېد. ننګرهار تر جلال آباد ښار پورې د سقویانو لاس ته ورغی. په دې توګه د
سقویانو دغه ځواکونه همدلته بوخت شول او د دوی شاته کابل د پکتیا تر برید لاندې راغی، کله چې
دوی غوښتل بېرته د کابل مرستې ته ولاړ شي، په لار کې د ننګرهار د خلکو له بریدونو سره مخامخ
شول، نو ځکه یې جلال آباد پرېښود. تر څو چې دغه ځواکونه له خپل جنرال نامتو غله خان محمدخان
سره بتخاک (د کابل څو میله نږدې) ته ور ورسېد کابل د پکتیا د ځواکونو په لاس ونیول شو. خان محمد اړ
شو، چې له خپلو ځواکونو سره یو ځای له بتخاک څخه پروان او تګاو ته او بیا په بېړه سره تیت او پرک شي.
په پکتیا کې نوې نقشه ډېره ژر عملي شوه، له یوې خوا د سقو لرې ځواک پکتیا ته وروغوښتل شو او
هلته د ګردیز شا و خوا له محمدصدیق خان جنرال سره بوخت پاتې شول، له بلې خوا محمدنادر خان ډېر
ژر پیاوړی شو او د ولایت دننه شخړې هوارې شوې. په هغه باندې، چې د چکرېو (ځلي سره د
خوږیانیوالو ځواکونه له ماتې سره مخامخ شول (د ۱۳۰۸ل کال د چنګاښ په ۲۹مه) د هغه په سبا (د
چنګاښ په ۳۰ مه) هندي الله نواز خان له ځانګو څخه راستون شو د مرستې په خاطر له پولې څخه پورې
وت او وزیرو ته ورسېد. هندي سید عبدالله شاه جي هم د سپه سالار د ورور شاه محمود خان د مرستیال
په توګه وټاکل شو. مرزا نوروز خان لوګري په پکتیا کې د زمري د میاشتې له پینځلسمې نېټې څخه
وروسته د (اصلاح) د جریدې په خپرولو پیل وکړ. د زمري د میاشتې په ۲۹مه نېټه د میرزکي او مچلغو
تر منځ د سقویانو یو شمېر ځواکونو د پکتیا ځواکونو په لاس ماتې وخوړه. د وږي د میاشتې په پای
کې لس زره وسله وال مسعود او وزیر پکتیا ته را ورسېدل.
شاه محمود خان ددغو پېښو په هکله د ۱۳۴۸ ق. کال د ربیع الثانی د پینځمې نېټې په خپل یوه لیک
کې، چې له ځانګو څخه یې کتواز ته د نورالمشایخ په نوم لېږلی و، داسې لیکلي وو:

Scanned by CamScanner

''... له مشرقي (ننګرهار) څخه هم د مومندو، اپریدو، خوږیانیو، سره رود او د شینوارو ګڼ شمېر ځواکونه را روان دي او په همدې دوه درې ورځو کې به کابل باندې برید وکړي... د وزیرستان له لوري هم لوی لښکر را روان دی، سل زره تنه یې د خوست چوڼۍ ته رارسېدلي دي او پاتې نور هم را رسېږي. دوی له ل زرد څخه زیات یو لښکر جوړ کړی دی، په داسې حال کې، چېرې سلیمانخېل هم یو حه و دي. تر چارې به سمې شي... د سلمانخېلو د سوداګرۍ په هکله د هندوستان د خلکو له اشتهاراتو څخه هم هغوی ته خبر ورکړئ. مخلص شاه محمود''

(دغه لیک اصلي نسخه د شمس المشایخ صاحب د زوی محمد معصوم المجددي د اسنادو په دوسیه کې ضبط ده)... خو د هندوستان د خلکو د اشتهاراتو په هکله، چې په دغه لیک کې څه لیکل شوي دي. له هغې موخه هغه اشتهارات دي، چې له دې څخه یوه میاشت د مخه (د ۱۳۴۸ ق. کال ربیع الاول کې) د محمد نادرخان په لاسلیك په سلمانخېلو کې خپاره شوي وو. له دې لامله د سلیمانخېلو سوداګري له هندوستان سره وه. نادرخان دوی په دې باندې ویرولي وو، چې د دوی د سوداګرۍ لارې به له هندوستان سره پرې کړي او ورته لیکلي یې وو، چې د هندوسان د هندوانو او مسلمانانو په استازیتوب یو پلاوی د مولوي ثناءالله په مشرۍ، ځاځیو کې نادرخان ته راغلی دی او ځان سره یو داسې اعلان لري، چې په هغه کې راغلي چې د سقویانو د پلویانو د سوداګرۍ مخه به له هندوستان سره ډپ کړي. اوس دغه پلاوی سلیمانخېل سره خبرو کولو ته چمتو دی، نور ستاسې (سلیمانخېلو) زړه چې خپله ځاځیو ته راځي او که غواړئ چې پلاوی کتواز ته در شي...

(دغه اشتهار اصلي نسخه، د استاد محمد معصوم صاحب په دوسیه کې شته)

همدا رنګه د وږي په میاشت کې په پېښور کې د افغاني پخواني وکیل التجا، (عبدالحکیم خان) له خوا څخه لس زره کلدارې ځاځیو ته راورسېدلې. عبدالغني خان سرخابي لوګري هم له پکتیا څخه کابل ته د پېنځلس زرو تنو د تېرېدلو لپاره آذوقه او خوراکه چمتو کړه. په همدې حال کې مهردل خان کندهاري، چې د پاچا امان الله خان یو کلك پلوي و، د وږي د میاشتې په اخر کې؟؟؟؟؟؟؟ پاخون وکړ، هلته د سقو سپاهیان له ماتې سره مخامخ شول.؟؟؟ سوه تنه یې ور ووژل. سره له دې، چې د کنهار حکومت د مهردل خان په لاس کې و، همدا چې د سپه سالار وزور محمد هاشم خان له سپین غره څخه کندهار ته ور ورسېد، د نادر خان د ځو تنو پلویانو په هڅونه یې د کندهار مشرتوب محمدهاشم خان ته ور وسپارله دا، ځکه چې تر دې مهال پورې لا محمد نادر خان د سلطنت دعوا او اعلان نه و کړی او د امان الله خان پلویانو داسې فکر کاوه، چې نادرخان پاچا امان الله ته خدمت کوي.

د ۱۳۰۸ل کال، تلې په شپږمه نېټه شاه ولیخان د پکتیا له پېنځه زره وزیري وسله والو ځواکونو سره له (دوبندي) څخه د لوګر (خوشي) ته ورسېد، چې په لاره کې له هېڅ ډول خنډ سره مخامخ نه شو.

جنرال محمد عمر خان سور، چې پخوا په هسې خبره بې له کوم دلیل څخه له امان الله خان څخه مرور شوی و، اوس د لوګر د درویش په سیمه کې د سقوي ځواکونو قوماندان و. له نادر خان سره یې ځان یو خای کړ او اعلان یې وکړ، چې دده تر قوماندې لاندې ځواکونه به د پکتیا والو د ځواك د تېرېدو پر

مهال کومه ستونزه نه پيدا کوي. د تلي مياشتې په اتمه نېټه د پکتيا ځواکونو د لوګر- کابل د تېرېدولو
مهمه برخه (د واخجان تنګی) ونيو او مدافع سقوي ځواکونه يې له ماتې سره مخامخ کړل په دغو
ځواکونو کې هغه شپږ کنډکونه و، چې د واخجان د تنګي د ساتنې لپاره د درويش له سيمې څخه را
استول شوي وو. دا مهال يو شمېر وسله وال د ډيورنډ له پورې غاړې څخه د پکتيا د ځواکونو د
پياوړي کولو په خاطر راغلل عليخېلو را ورسېدل. د پکتيا دغو ناڅاپي سوکياکو؟ په ډېر دقت سره په
سيده توګه کابل تر ګواښ لاندې راوست او په کابل کې يې سقوي حکومت ويره کې واچاوه او هلك
حيران يې کړل.

دا ځکه چې تر اوسه د سقوي زوی ته داسې ويل کېدل، چې دده پوځونه په ټول افغانستان او په ننګرهار
او پکتيا کې بريالي او پرمختګ په حال کې دي او نادرخان له يوه کوچني ځواك څخه کابل ته کوم خطر
نه پېښېږي. خو اوس دادی يو ناڅاپه د واخجان تنګي کنټرول د پکتيا د ځواك په لاس کې پرېوتلی و او
د تلي په لسمه يې د مداغي شنه سيمه هم له سقويانو څخه د توري په زور ونيوله د مداغي (محمد آغي)
دفاع شپږ کنډکه سرتېرو ته سپارل شوي وو، تر څو اغتشاشي حکومت کوم نوی پوځ چمتو کاوه او له
ننګرهار، قطغن او ګرديز څخه ده ته عسکري مرسته راتله. د پکتيا د پيشدار مغرزي د الله نواز هندي
تر قوماندې لاندې د پلازمينې په ديارلس کيلو مترۍ کې د تلي په ۱۳مه چهار آسيا نيولې وه. په هغه
سبا (د ۱۳۰۸ل کال د تلي په ۱۴مه) شاه ولي خان له پشپړ پکتيايي پوځ او د وزيرو له ځواکونو سره
کابل ته را ورسېد. د تلي په پينځلسمه نېټه په کابل کې جګړه پيل شوه. د سقو لږ شمېر سرتيرو،
آسيايي، شيردرازې او بالاحصار په څوکو کې ډېره کلکه جګړه کوله.

دالله نواز خان ملتاني او محمد ګل خان مومند تر مشرۍ لاندې د پکتيا او وزيرو ځواکونو د بيني حصار
له لارې او د شاه ولي خان تر مشرۍ لاندې د چهلستون او دارالامان له لارې پرمختګ وکړ. د سقو زوی
حبيب الله شخصاً په خپله د جګړې په ډګر کې دفاع کوله. کله چې د شپې له خوا د اغتشاشي حکومت
ځواکونه د شمېر د کمښت له لامله د ارګ کلا ته ننوتل، د بالاحصار مرنجان غونډۍ او غرونو په سرونو
يې ډېر شيردرازې د څوکې ساتل ور په غاړه وو. نوموړي په پټه له بريد کوونکو سره لاس يو کړ او خپل
دفاعي سنګر يې ور پرېښود (له همدې لامله د نادرخان نوی دولت په پيل کې هغه ته د کنډك مشرۍ
رتبه ورکړه، وروسته يې بيا بندي کړ تر څو چې مړ شو) د پکتيا بريد کوونکو د شپې په تياره کې د
بالاحصار او غرونو څوکې ونيولې او په هغه سبا د تلي په شپاړسمه سره له دې، چې د سقو زوی حبيب
الله لږ شمېر افسرانو او سرتېرو په بالاحصار او ګذرګاه او حضوري ګلشن په سيمو کې ډېر کلك
مقاومت وکړ، خو د پکتيا ځواکونو د کابل ښار ونيو. د سقو زوی له خپلو ګوتو په شمار افرادو سره د
ارګ د ديوالونو دننه کلابند شو. په دې توګه د پکتيا ځواکونو د لسو ورځو په ترڅ کې له پکتيا څخه
لوګر او بيا کابل ته را ورسېدل او کابل يې ونيو (د دغه بحث مجمل تفصيل د انيس د ورځپاڼې د موسس
او ليکوال محی الدين خان انيس د بحران و نجات په نامه تاليف شوي کتاب کې راغلي دي.)

Scanned by CamScanner

د تلې په ۱۷مه نېټه ارګ په کلابندۍ کې و، د سقو زوی له ننګرهار، قطغن، ګردیز، غزني، کوه دامن اوکوهستان څخه مرستندویه ځواکونو د رارسېدو په تمه و، دا ځکه چې د جنګ وزیر سید حسین له پوره اندازه ځواك سره له قطغن څخه مخ په کابل روان و او د ننګرهار اسقوي ځواکونو هم بېړه کوله، چې مخ په کابل ورشي. د دربار وزیر شیرخان او د کابل والي ملك محسن لا مخکې کوه دامن ته ورغلي وو، چې ځواکونه راټول او نوی پوځ برابر کړي. خو تر ټولو زیات سقوي سپه سالار پردل، چې په لوګر کې یې لښکر کوټ جوړ کړی و، خبر شو، چې د پکتیا پوځونه له واخجان تنګي او محمداغي څخه تېر شوي دي او په کابل یې برید کړی دی، نو ځکه یې له شېرکنډك عسکرو سره له لوګر څخه را روان شو او د پغمان له لارې څخه د خیرخانې غاښې ته را ورسېد او د ارګ د کلابندۍ د ماتولو په نیامت یې برید پیل کړ، خو د پکتیا ځواکونو د هغوی مخه د خیرخانې په سیمه کې ونیوله. پردل، چې د لښکر په مخکې و، په ګولۍ ولګېد او پوځ یې هم له ماتې سره مخامخ شو. د تلې په ۱۸مه نېټه د نامتو توپچي کنډك مشر محمد یعقوب خان (چې د امانیه دولت یو کلك پلوي او د اغتشاشي حکومت مخالف او محبوس و) له خوا د کابل ارګ د توپ تر اور لاندې راغی، په دې توګه د ارګ د کلابندۍ کړۍ نوره هم کوچنۍ شوه، خو ارګ په کلکه دفاع کوله. د تلې په ۱۹مه نېټه په‌ارګ باندې ګولۍ ورېدې او کلك دیوال یې ونړېد او د ارګ دننه وسله تون اور واخیست، لوګي یې پورته شول او تر ماښام پورې برېږ کوونکې د ارګ د برجونو او باړو لاندې ورسېدل. په همدې ماښام د سقو زوی حبیب الله له خپلو ملګرو سره په ترورمۍ کې د ارګ له شاهي دروازې څخه وتلی او د کلابندۍ له کرښې څخه هم اوښتي وو. د سقو زوی لومړی کوه دامن ته او بیا چاریکاو ته ولاړ او د جنګ وزیر سید حسین له قطغن څخه را ورسېد. دوی ته دا خبرونه هم را ورسېدل، چې ځواکونه یې په ننګرهار، لوګر په کندهار او پکتیا کې له ماتې سره مخامخ شوي دي. سید حسین او ډلې یې په دې لټه کې شوه، چې نوي ځواکونه چمتو او په کابل برید وکړي، خو یو شمېر نور چې په سیاست او وضعیت باندې پوهېدل او د اغتشاشي حکومت دننه یې ښه دریځ هم درلود، ددې کار مخه نیوله دا کسان خواجه بابوخان، میرعلم خان او نور وو، نو په دې توګه ډېر ژر د کابل او چاریکارو تر منځ اړیکې او خبرې اترې پیل شوې سیخې شوې، چې د سید حسین له ټینګار سره سره حبیب الله خان او د خپلو ملګرو د ژوند د ضمانت په بدل کې او په قرآن باندې د نادرشاه د ژمنې په صورت کې پرته له جګړې څخه تسلیم کېدو ته حاضر شو، البته نادرشاه دغه ژمنه ومنله او د سقو دزوی د تضمین په خاطر یې پهخپله شاه محمود خان د تلې پر ۲۵مه نېټه چاریکارو ته واستاوه. هغه په ډېره اسانۍ او په سیاسي ژبه دغه ماجراجو غلی کړ او بې له ځنډه یې کابل ته راوست (د لړم لومړی).

نوی پاچا لا تر اوسه د کابل د سیند تر غاړې (د ارګ د نړېدو له لامله) د شیراحمدخان شیرزاد د پلار فتح محمدخان امین العسس په سرای کې و، هغه په یوه لویه مسطیل ډوله کوټه کې په فرش شوي غولي باندې ناست و او یو شمېر مامورین او نور خلك ورته تلل راتلل. دا وخت د ودانۍ تر شا د موټرو غږ واورېدل شو، دې پسې ورورسته د سقو زوی حبیب الله او دده ملګري له موټر څخه راکوز کړل شو.

دوی ټولو عادي کليوالي جامې لرلې. حبيب الله د کميس پرتوګ او کرتۍ باندې برسیر یو زیړه عسکري شړۍ اچولې وه او پټکی یې په سر و. همدا . چې دوی حویلۍ ته ننوتل او خبل شا و خوا یې نژ شمېر پکتیاوال وسله وال ساتونکي ولیدل، نو پوه شول، چې نور نو آزاد نه دي. نادر شاه وویل، چې حبیب الله دې وروليږي. حبيب الله پرته له کوم بدلون څخه کوټې ته ورننوت او پاچا ته یې سلام واچاوه. ناستو کسانو یوه هم څه نه ویل او نه خوځېدل. پاچا سر پورته کړ او حبيب الله ته یې وکتل او بیا په لاس باندې کیڼ لوري ته لیکې او ښودې او ظاهراً په نرمۍ سره وویل: کینئ. د ناستو کسانو د لیکو منځ کې یې ورته ځای پرېښود. حبيب الله کېناست. په کوټه کې ژوره د کوټې په بر سر کې ناست و. پاچا خپلو څشمکود ښینو له شا څخه له لږ څنډ چوپتیا وروسته حبيب الله ته سوړ نظر وکړ او په نرمۍ یې ورڅخه وپوښتل:

(بښه! حبيب الله خانه، ستاسې موخه له دغو ټولو ورانیو او جګړو څخه چې په افغانستان کې مو وکړل څه وه؟)

حبيب الله د سقا زوی، چې پوهېدلی و، چې دا ډول هر کلی او خبرې له پخواني تضمین سره توپیر لري، ځواب یې ورکړ:

(تر څو زما واك او هر څه، چې د افغانستان په خیر و هغه مې ترسره کړل. اوس چې تاسې واك لرئ، هر څه کې، چې د افغانستان خیر وي هغه وکړئ)

پاچا وویل: (ښه. اوس تاسې يو څو ورځې استراحت وکړئ بیا به ګورو)

خبرې ودرېدې او حبيب الله پاڅېد ووت. ساتونکو هغه اود هغه ملګري په موټرو کې د ارګ زندان ته یووړل. دوی لس ورځې په دغه میلمستون کې وو ، چې مرګ ته د دوی هېڅ پاملرنه نه وه. د لړم د میاشتې په یوولسمه مازیګر مهال د پاچا په امر دغه بندیان له زندان څخه را وایستل شول او د ارګ له شمالي دروازې څخه بهر کړل شول او یوې کندې ته مخامخ یې د ارګ د شمالي دروازې تر برج لاندې ودرول. هلته لا د مخه دولتي ټوپك لرونکي کتار درول شوي وو، وروسته تر لږ شیبو د ټوپکو ډزې شوې او لږ شېبه کې د سقو د زوی حبيب الله، د هغه د ورور حمید الله (سردار علي) د جنګ د وزیر سیدحسین، د دربار د وزیر شیرجان خان، د پکتیا د جبهې د قوماندان محمد صدیق خان، د کابل د والي ملك محسن، د سقا د زوی د قلعه بیګي عبدالغني کوه دامني او د جنګ د وزارت د مرستیال محمد محفوظ هندي په وینو لړلي جسدونه پر ځمکه حضوري چمن کې په دار وځړول شول.

په دې توګه د سقوي اړ و دوړ خواشینوونکې ډرامه په افغاني ټولنه باندې د یوې توري پردې په هوارېدو سره د یوولسو میاشتو په ترځ کې (د ۱۹۲۸ م. کال له دسمبر څخه د ۱۹۲۹ تر اکتوبر پورې) پای ته ورسېده او هغه اختلاف، چې د امانیه رژیم د له منځه وړلو لپاره پیل شوی و، د زرګونو تنه ځوانانو د وینو په بهېدلو سره او د بدلون او ترقۍ د زړي په له منځه تلو سره پای ته د ورسېدلو هېواد ډېر تورکلونه د هغو د مادي او معنوي زیانونو آسویلي وکښل.

# دوهم څپرکی

## دارتجاع او اختناق ټینګېدل او د هغه په ضد د خلکو مبارزه
## ۱۳۰۸-۱۳۱۲ ل

**(د محمدنادرشاه د سلطنت پر مهال: د ۱۹۲۹ د اکتوبر له ۱۶ مې څخه ۱۹۳۳م. د نومبر تر اتمې)**

## لومړی

### سیاسي فضا

د سقوي اړو دوړ دورې په هېواد کې کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ له خنډ سره مخامخ کړې، کرنه او پیشه وري یې ټکنۍ او د هېواد لویې لارې د سوق الجیشیانو تر بریدونو لاندې راغلې. لوی ښارونه یا اتاغ یا هم په تعرض کې کرنه څارو روزنه، بڼ پالنه، پیشه وري او صنعت د همدې لاندې وې. ټولې قانوني موسسې او ټولې ګټې تأسیسات لکه معارف او روغتیا، سوداګري او شورا، صنعت او کار ځایونه له کاره پاتې شول. په بهرنۍ سیاست او کورنۍ اداره کې د دولت پرستیز او حیثیت له منځه تللی و، دا یواځې نه، بلکې سقوي اغتشاشي نظامي حکومت د فیوډالو-غلو او ماجراجویانو د ملاتړ د ترلاسه کولو په خاطر، تر هغو پورې، چې خزانه او وسله یې لرله اسراف څخه کار اخیست او هر ډول بخشونه یې ورکول. همدغو ډلو مالیه نه ورکوله له دې لامله چې سوداګري نه وه. ګمرکي مالیات راټیټ شول، ځینو ځایونو کې صفر ته ورسېدل، له بلې خوا پوځي لګښتونه لوړ شول او دولتي خزانه تشه شوه. د اړتیا له مخې بخښل شوي مالیات او پخواني باقیات تر تحصیل لاندې راغلل. د نورو د شتمنیو لوټول او ضبط کول هم پیل شول. اداري تر هر څه مخکې خلك تر فشار لاندې راوستل. په ټولو نیول شویو ولایتونو کې قانوني اداره او شرعي قضا له کاره ولویده، آن دا چې پخواني دودونه او ولسي نرخونه هم له منځه ولاړل. هر سقوي نظامي افسر او حاکم شخصاً خپلسری دیکتاتور و. دوی په خپله په شفاهي او لیکنې بڼه مالیات ټاکل، د قصاص او جزا په حقوقو کې یې فیصلې کولې او هغه یې د عسکرو په زور تطبیق کولې. هېڅ ډول جرګې، محاکمې او محکمې شتون نه درلود او داسې نورې ستونزې. د بر ژر د ښځو او نرو شکایتونه پورته شول څمکوال او روحانیونو هم له سبا ورځې په ویره کې شول، هېودوال په عملي او معنوي ډول سره د اغتشاشی حکومت نه، اندې ا باځېدل. په همدغه ډول

فضا او مساعدو شرايطو کې د اغتشاشي حکومت د راپرځولو او د يوه پوه او د خوښې وړ حکومت د جوړولو لپاره د افغانستان خلکو کوم مشرتوب او خلکو ته منلي رهبر اويا ګونه نه درلود. يعنی تر دې مهال پورې، چې د هېواد په بېلا بېلو سيمو او ولايتونو کوم نامتو خلك وو او د مشرانو او پوهو کسانو په توګه پېژندل شوي وو او ټول پښتانه، پارسيوانان، ترکي ژبې او نور وربانديې راټوليدای شول، له لاسه وتلي وو. باچا امان الله خان، سردار عنايت الله خان، غلام نبي خان څرخي، او سردار محمدامين خان هم له هېواده وتلي وو. سردار حيات الله خان او والي علي احمد خان وژل شوي وو او محمدولي خان او ده ته ورته نور د سقو د زوی حبيب الله تر ځارنې لاندې راغلي وو. د سياسي او ملي مشرتوب په دغه ډول خلا (تشيال) کې ارتجاعي او استعماري ځواکونو سپه سالار محمدنادر، چې پکتيا ته را رسېدلی و او سقوي ضد توغ يې اوچت کړی و. را ميدان ته کړ. اوس به ګورو چې دغه سپه سالار محمدنادر خان څوك دی؟

# دوهم

# محمدنادر څوک و او څنګه یې سلطنت تر لاسه کړ؟

د افغان- انګلیس په دوهم جګړه (۱۸۷۸ - ۱۸۸۰ م) کې، هغه چې امیر محمد یعقوب خان د افغانستان د ملت جبهه پرېښوده او د ګندمک تړون یې لاسلیك کړ، د انګلیس دولت ددغه ډول تسلیم شوي پاچا ته اړ پاتې نشو، بلکې د افغانستان له خلکو سره مخامخ شو. په دې توګه بندي امیر محمد یعقوب خان یې د ۱۸۷۹م. کال په دسمبر کې له کابل څخه هندوستان ته تبعید کړ. ورپسې یې سردار یحیی خان (د سردار سلطان محمدخان طلایي یو زوی) د امیر محمدیعقوب خان خسر هم له کابل څخه د هند دیره دون ته واستاو. د یحیی خان کورنۍ له ۱۸۷۹ څخه تر ۱۹۰۱م کال پورې ۲۳ کاله په دیره دون کې اوسېدله. له دې لامله، چې په هندوستان کې یې شتمني نه لرله، چې ژوند ورباندې تېر کړي، نوځکه یې د انګرېزانو په ډېر لږ خیره ګوزاره کوله. په تېره بیا ددغې کورنۍ غړو د سوداګرۍ لپاره همه کومه پانګه نه لرله او په ځینو ځانګو کې هم د تخصص لرونکي نه وو. له سردار یحیی خان څخه وروسته د هغه مشران زامن سردار محمد یوسف خان او سردار محمد آصف خان د خپلو کورنیو مشران وو او د زیات شمېر اولادونو لرونکي وو، چې په دوی کې یو هم سردارمحمد نادرخان د سردار محمد یوسف خان زوی و، چې په ۱۸۸۳م. کال کې په دیره دون کې وزېږېد. هغه پینځه ورونه لرل، محمد عزیز خان، محمدهاشم خان، شاه ولي خان، شاه محمود او محمد علي خان، کله چې امیرعبدالرحمن خان اجازه ورکړه، چې دغه کورنۍ د دیره دون له تبعید ځای څخه افغانستان ته راشي، دده د سلطنت وروستی کال (۱۹۰۱م) و. دا مهال سردار محمد نادرخان اتلس کلن وو او له خپلو ورونو او د تره زامنو سره یې په هندوستان کې خصوصي زده کړې، کړې وې او یو څه اندازه په اردو او انګلیسي ژبو باندې پوهېدل، هیڅ شك نشته چې دوی له بلد شوي وو او د انګلیسانو د مستعمراتي اداري تر اغېزې لاندې راغلي وو. دا ځکه، چې د ځوانۍ ورځو کړه وړه او زده کړې په انسان باندې ډېره ژوره اغېزه لري، نو کله چې افغانستان ته راغلل، له نوي چاپېریال سره توافق او د هند له چاپېریال سره په توپیر کې ژوند کول د دوی ځوانانو ته یو څه ستونزمن کار و. له همدې لامله دوی خپل خانواده ګي قشر کې ونغاړل شول او له افغاني ټولنې څخه لرې پاتې شول او ورو ورو د کابل په دربار کې ډوب شول او د شاه پرستۍ (پاچاهي لمانځنې) اداب (هڅوب) یې زده کړل، آن دا چې د دوی ټول کړه وړه نورو دربایانو ته بېلګه بېز او نمونه شول. په خپله د نوي پاچا (امیر حبیب الله خان) پام یې هم ځانته واړاوه او پاچا په ۱۹۰۲م کې د محمدنادرخان خور ځانته واده کړه.

Scanned by CamScanner

معاشونو لرونکې وې. د ټولو جامې او خولۍ اروپايي او د هغوی تفريحي لوبې (ادراق، فنجان و چله بردست) وې. د کابل د حربي فابريکې دوه تنه زرګران عبدالقاهر او عبدالغني ددې لپاره ډيلي ته ته واستول شول، چې دنوي زرګرۍ له زده کړې وروسته د پاچا ښځو ته ګاڼې جوړې کړي. د نويو ګاڼو په لړ کې يو هم هغه لوزي شکله د سرو زرو ګاڼه وه، چې د لوڅې لامبو پر مهال به په يوه نري زنځير سرد ښځو تر ملا تړل کېده او د حمام د لنګ پر ځای به يې عورت ستر کاوه. کابلي طبيب مرزا تاج محمدخان ته دنده سپارل شوې، چې د طبابت پر ځای (حرم ښځو ته د ښوونکي په توګه دنده ترسره او هغوی ته سوار ور زده کړي. هندي طبيب الله جويا دا دنده لرله، چې شپه او ورځ د پاچا د پياوړي کولو او د حرم د يو شمېر ښځو د حمل (بلاربېدلو) د مخنيوي لپاره کار وکړي. ورو ورو په عشرت کې د پاچا افراط هغه عصباني او د سترګو ديد يې کم کړ، چې وروسته يې (شب سراج) ابداع کړه، يعنې هره څلورمه شپه ښځو ته ځانګړې شوه او بس. دا يواځې نه بلکې د پاچا خوی ډېر تند او ډېر ژر خپه کېدو او خپلو درباريانو باندې غوسه کېده.

د هغوی په ډېر لږ تيروتنه به يې هغوی ته سپکاوی کاوه. په دې توګه د دوی په زړونو کې د غچ اخيستلو او دښمنۍ اور بل شو. يوه ورځ پاچا په ملکي شا آغاسي علي احمدخان باندې په غوسه شو او هغه ته يې په عام دربار کې د پلار کنځله وکړه، شا آغاسي اړ و، چې ځواب ورکړي: (امير صاحب درست ميفرمايد) کله، چې پاچا د کابل په څو ميلې کې استالف ته د سيل او تفريح لپاره ووت دده زوی شهزاده محمد کبير او سپه سالار محمدنادرخان لږ څه له ټاکلي وخت څخه وروسته را ورسېد. پاچا امر وکړ، چې دواړو ته دې کرتۍ په چپه ور واغوستل شي په خره دې سپاره کړی شي او په کابل کې دې وګرځوي (وروسته بيا محمد کبير خان د پلار له لاسه هندوستان ته وتښتيد). په ۱۹۲۲م. کې، چې کله په پاريس کې وم په مسکو کې افغاني سفير سردار محمدهاشم خان (چې وروسته بيا د افغانستان صدارعظم شو) پاريس ته راغی. يوه ورځ يې د خبرو په ترځ کې د امير حبيب الله خان په هکله وويل: "کله چې امير د کابل دستور په چمن کې ګرځېد او زه ورسره وم. هغه په ډېره يوه کوچنۍ خبره په غوصه شو او په خپلو دزنو څپېړو يې زما مخ را وپړساو. زما پلار او تره (خاص مصاحبين) هم راغلل له هغه سره يې مرسته وکړه او تر وهلو لاندې يې کړم او بيا يې وروسته له امير څخه بخښنه وغوښته، چې زما تيروتنه د شاهانه لاسونو د تکليف لامل شوې وه.

په ۱۹۳۰م کال زه ليکوال يوه ورځ په برلين کې په لندن کې د پخواني افغاني سفير شجاع الدوله خان سره د سيند تر غاړې مخامخ شوم او د لامبو پر مهال مې د هغه په ملا او ډډو باندې کوچني ټپونه وليدل د هغوی همکار ورڅخه پوښتنه وکړه، ځواب يې راکړ:

"يوه ورځ (جلال آباد په سفر کې د باچا "پيش خانه" له ټاکلي وخت څخه لږ وروسته (هغه د باچا فرا شباسي و) روانه کړه، امير دورځې په پروګرامونو هره شيبه شمېرله. زه يې ددغې تيروتنې له لامله پر څمکه وغورځولم او په متروکو يې ووهلم دغه ټپونه د متروکو د وهلو ځايونه دي" (شجاع الدوله هغه څوک و، چې د حبيب الله خان د قاتل په توګه وپېژندل شو). د امير يو بل درباري سردار ګل محمدذکريا،

Scanned by CamScanner

چې یو ادیب سړی و، د امیر حبیب الله خان له مړینې څخه څو کاله وروسته یې په خپګان سره کیسه کوله، چې: "یوه ورځ د امیر له حرکت څخه پنځه دقیقې وروسته ارګ ته ورسېدم د پاچا مو ټوله ارګ څخه وتلي وو، زه یې په سړک باندې ولیدم او ودرېدم. له ما څخه یې وپوښتل: ساعت څو دی؟ ما عرض وکړ: پنځه دقیقې له وخت څخه تیرې دي. امر یې وکړ، زما لاسونه یې ونیول او په څپېړو یې وهلم، بیا یې پرېښودم په وینو ډکه خوله کور ته ولاړم"

د پاچا د همدې ډول چلند له لامله مستوفي الممالك مرزا محمدحسین خان د یوې میلمستیا په ترڅ کې، چې د کوهستان په بایان کې د پاچا په ویاړ جوړه شوې وه، د پاچا د خیمې زینه له مقررې انداز څخه لړ لوړه جوړه کړې وه، کله چې پاچا خیمې ته راننوتي شو، په غوسه شو، ویې غوښتل، چې ددغې تیروتنې لامل له مستوفي الممالك څخه وپوښتي. مستوف وخت ور نه کړ، دغه باوقار او لږ خبرې کوونکی شخص لکه ونه پر ځمکه پرېوت او ویې ویل (بد مې کړي اعلیحضرت وبخښه). په داسې حال کې، چې ټول درباریان او د مستوفي سیالان دوو (د ۴۱ مخ اخري کرښه ورانه شوې) د مخنیوي او له دې څخه د زیات سپکاوي د نه ترسره کېدو په خاطر دا کار وکړ او ځان یې دغې خوارري ته ورکړ. هغه له یوه عادي کتابت څخه یوه ډېر لوړ دولتي مقام ته رسېدلی و. خپلو دوستانو به یې ویل: "زما مذهب د سلطان مذهب دی" هغه په خپله دغه خبره کې رېښتونی و، دا ځکه چې د امیر عبدالرحمن خان پر مهال، چې وینې یې غوښتلې، وینې یې تویولې، خو د امیر حبیب الله خان پر مهال، چې لکه د پلار په شان یې د وینو تږی نه و، د یوې چوغکې وینې یې هم ونه بهولې.

مخکې تر دې، چې امیر حبیب الله خان ووژل شي، یوه شپه یې په ارګ کې زنانه جشن جوړ کړی و او د لویو ستو یو شمېر ښځې یې دغه جشن ته رابللې وې، خو ډېرو دغه بلنه ونه منله او د ناروغۍ بهانې یې وکړې. په دوی کې یو هم د دربار د بار چالانې مامور میرزمان الدین خان بدخشاني و. هغه په څرګند ډول د بلنې په ځواب کې ولیکل: "زه په خپله د پاچا نوکر یم، خوښه مې د چا نوکره نه ده او په هېڅ رسمي غونډه کې برخه نه اخلي" دې پسې وروسته کله چې پاچا د ژمنۍ تفریح لپاره جلال آباد ته روانیده د خدای په امانۍ یوه لویه رسمي غونډه یې د کابل په سلامخانه کې جوړه کړه او د خدای په امانۍ د وینا په ترڅ کې یې ټولو ملکي او نظامي مامورینو ته وویل: "څه موده مخکې په ارګ کې یو د ښځو لپاره جشن جوړ شوی و، هغې ته مو درنې میرمنې رابللې وې، میرزمان الدین، چې دلته ناست دی، بلنې په ځواب کې لیکلي وو، چې زه نوکر یم زنانه مې نوکرې نه دي، آیا پاچا ته څوك داسې ځواب ورکوي؟ بیا یې امر وکړ او مرزا کوچ یې د هغه له ملا څخه را پرانیست (په هغه وخت کې ملکي مامورینو هم نظامي درجې درلودې او نظامي رسمي لباس یې اغوست) او دغه فاضل سړي په قهر سره په وهلو ډبولو له دربار څخه وکیښ البته د غونډې ټولو برخوالو په غوسې او کرکې چوپتیا غوره کړې وه. کله، چې د افغانستان قاضي القضات سعدالدین خان له دې پېښې څخه خبر شو، پاچا ته یې په کلکو الفاظو یو لیك واستاوه او پاچا یې په دې کار سره ملامت کړ، دا ځکه پاچا ویلي وو، چې په راتلونکي کې کومې ښځې چې د ناروغۍ له لامله د ارګ په جشنونو کې ګډون نه کوي، باید د ناروغۍ تصدیق، چې یوه

طبيب د سيمې يوه کلانتر او د جومات يو ملا امام لاسليک کړي وي راوړي، د امير دا اعلان د لوير مامورينو او درباريانو په وړاندې د يوې جګړې په شان و. حال دا، چې د افغانستان ملت څه موده مخکې وروسته تر زرو کلونو څخه د سلطنت او د پاچا د مقام په هکله د مقدسيت او مطاع په برخه کې خپل مذهبي او پخواني دوديز عقايد بل کړي و او د دوی لپاره يې مذهبي القاأت او عادتونه له لاسه ورکړي وو، نور نو پاچا د اميرالمؤمنين او اولنی الامر په توګه د خلکو په عقيده او ذهن کې ځای نه درلود. خو سره له دې، چې افغانستان د يوه فيوډالي رژيم لاندې او هغه اوږدو پېړيو په ترڅ کې ژوند تېر کړی و او دا دی له سلو کلونو څخه را په دې خوا تر ممکن بريد پورې هڅه شوې وه، چې دغه هېواد د نړۍ دبشري تکاملي، تحولاتو څخه لرې او ګوښه وساتل شي، خو بيا هم د هېواد خلکو خپل معنوي کرامت او ټولنيز اصالت ساتلی و. ستر ملت او پراخه ولس (بزګرانو، شپنو، کسبه کارانو او پيشه درانو) سره له دې، چې د هېواد د حاکمه طبقاتو (دولت، ځمکوالو او د ټولنې د نورو طفيلي ډلو) د خوراک ورکولو او د هغوی د هوسا ساتلو درونه بار په اوږه درلود، خپله يې په وچه ډوډۍ او اوبو باندې ګوزاره کوله، خو په معنوي لحاظ يو پياوړی او ژوندی ملت و. د افغانستان سرتېرو په همدغې روحيې سره په ډېر لږ معاش باندې د هېواد په سرو او تودو پولو کې په ختينو تانو کې په زړو جامو او وچې ډوډۍ پرته له دارو درملو، طبيبو کور او ماشومانو او بې له تفريح څخه کلونه کلونه دفاع کوله او هلته به پراته وو او په پای کې به پرته له کوم تقاعد، ترفيع او مکافاتو څخه مړه شول، دا ځکه چې دوی د زړه له تل څخه ځانونه دهېواد د خپلواکۍ او د خاورې ساتونکي ګڼل، نوځکه په ډېر زغم او صبر سره په مېړانه د ستونزو په وړاندې درېدل او شکايت يې نه کاوه.

نو کله، چې د افغانستان خلکو له خپلې دغې ډېرې ځپل شوې اقتصادي وضعې سره د پاچا ددغه ناوړه چلند په هکله خبرې اورېدې او يا يې د هغه دغه ناوړه چلند له نږدې څخه وليده، په زړه کې يې کرکه پيدا او مخ يې ورڅخه واړاوه او د يو پټ ګوند په جوړولو باندې يې لاس پورې کړ، چې نوم يې (جمعيت سري ملي). دوی وغوښتل، چې دغه له فساد او اختناق څخه ډک رژيم واړوي، خو پاچا وکولای شول، چې ددغه ځوان غورځنګ د توپ په خوله او د زندان په زنځيرو او زولنو سره په ۱۹۰۹م. کې له منځه يوسي يې تيت و پرک خپل فعاليتونه پرمخ بوتلل. په هېواد کې د شپې پاڅو د خپرولو دود له همدې مهال څخه پيل شو. تر څو چې په ۱۹۱۸م. کال د هېواد يو روڼ اندی (عبدالرحمن لودي) وکولای شول، چې د پاچا په ترور کولو اقدام وکړي، خو دهغه د تومانچې وار خطا شو.

نور نو نه يوازې دا، چې پاچا د خلکو له زړونو او د روڼ اندو له مغزو څخه ولويد، بلکې خپل دربار بې هم د خپل ځان په وړاندې راپاڅاوه. په دې توګه په دربار کې يوه يوه پټه (سري) کړۍ د امير د ناودود پای ته رسولو او د افغانستان د اداري د اصلاح لپاره رامنځته شوه. البته د پاچا د واک په وړاندې هېڅ بشو کولای، چې کوم ګونه جوړ کړي، تر څو چې د پاچا د کورنۍ په يوه غړي ډډه ونه لګوي. د پاچا په کورنۍ کې هم داسې کوم څوک نه و، چې ددغه ډول تشکيلاتو په سر کې ودرېږي، خو دوه تنه: يو يې د پاچا ورور سردار نصرالله خان نايب السلطنت، چې د خپل ورور له بهرني سياست او د هغه له کورنۍ

Scanned by CamScanner

اداري سره په بشپړه توګه مخالف و، او بل امان الله خان معین الدوله د پاچا دزېیم زوی، چې د پاچا د کورنۍ د نورو غړو په پرتله يو ترقي غوښتونکی او روڼ اندی (روشنفکره) ځوان و. په داسې حال کې، چې د امان الله خان تره سردار نصرالله د منځنیو پېړلو د وچ نظام غوښتونکی و.

په هر حال به امان الله خان وکولای شول، چې په دربار کې او له دربار څخه بهر د يو ګونه په سر کې راشي او د پاچا په ضد فعالیت کړي. په دغه ګوند کې يو شمېر شکمن غړي (لکه سپه سالار محمدنادرخان) له خپلو ځانګړو موخو سره لاره وموندله، خو امان الله خان او د ګوند رهبري په عمومي توګه د رژیم د بدلون، د پاچا د وژلو. د بهرنۍ خپلواکۍ د ترلاسه کولو او د افغانستان د ټولنې او اداري د ريفورم غوښتونکي وو. سمدستي د افغانستان پاچاهي هم نايب السلطنته ته په پام کې ونيول شوه او د امان الله خان په لاس دګوند د غړو لیکلې ژمنه د قرآن د پاڼې په څنډو کې نايب السلطنت ته وسپارل شوه. دګوند مهم غړي دا وو:

امان الله خان عين الدوله (د ګوند مشر) محمد ولي خان بدخشاني (د دربار سر جماعه، شجاع الدوله خان غوربندي (د دربار فراشباشي)، د شور بازار حضرت فضل محمدخان مجددي چوبه شمس المشايخ مشهور و او د کابل او پکتيا په ولايتونو کې يې ډېر نوم او اعتبار درلود او په ټول افغانستان کې به يوه روحاني مشهور و. د پلازميني د وسله والو ځواکونو قوماندان سپه سالار محمد نادرخان هم ددغه ګوند غړی و، چې شمس المشايخ او سپه سالار په ناسيد توګه له دغه ګوند غړي وو. ميرزمان الدين بدخشاني (د دربار د بار چالاني پخواني مامور)، محمد يعقوب خان (د پاچا خاص غلام بچه) محمد سميع خان (د همدغه محمد يعقوب خان ورور)، محمد ابراهيم خان (د امان الله خان فراشباشي) او سارجن ميجر عبدالعزيزخان. البته يو شمېر نور هم وو ، چې له دغه ګونه څخه بهر يې له امان الله خان سره ځانګړې اړيکې درلودې، لکه محمود طرزي، محمود سامي او نور.

پتيبل شوې وه، چې پاچا به په جلال آباد کې وژل کېږي او نايب السلطنه به د پاچا په توګه اعلانېږي خو شمس المشايخ ويل، چې د پاچا له وژلو مخکې بايد هغه ته په ليکلي توګه اخطار ورکړل شي، چې که چېرې يې ونه منله، نو بيا وسلې ته لاس غځول جايز دي. د ګوند غړو اخطار ورکول يو خطرناک کار باله او ين ناڅاپي ترور يې غوره باله. امان الله خان نشو کولای، چې د روحاني اغيز له مخې الشمس المشايخ خبره بابيزه وګڼي، نو ځکه هم د هغه وړانديز ومانه او د شپې له خوا د يو شمېر پټو غونډو په ترڅ کې يې دغه موضوع سمباله کړه او د پاچا په نوم يې اخطاري شپې پاڼې وليکلې او هغه يې د ملا امير محمد دور کې په خط پاکنويس کړې او پام وړ ځايونه کې يې واچولې. داسې پرېکړه وشوه، چې ملا امير محمد ورډګي به له ګوند څخه بهر بېخي نالوستی معرفي کېږي، نوځکه هغه تر څو چې ژوندی په همدې بنه پاتې شو (هغه سل کاله ژوندی و او په ۱۹۲۸م. کې ومړ).

ددغو غونډو په ترڅ کې امان الله خان د شمس المشايخ په مرسته او د هغه د سربښندونکو مريدانو په هڅو ډېر مخور کسان تر تبليغ لاندې راوستل تر څو د افغانستان د موجوده اداري ناوړه او خطرناک حالت باندې ځان پوه کړي او د هېواد راتلونکي خي غوښتونکي اقدام لپاره نويوپېښو ته سترګې په لار

اوسي. امان الله خان عين الدوله د همداسې يوې شپې له غونډې څخه د شمس المشايخ له كور څخه يواځې په آس سپور د بالاحصار لويديځ غره (كاسه برج) ته ولاړ، هلته سپه سالار محمدنادرخان هم يواځې راغلی و. دوی دواړو د کاسه برج دغره له پاسه پټې خبرې وکړې، دا چې د خبرو سکالو څه وه، هغې يواځې همدغو دوو ادعا لرونکو سياستوالو پورې اړه لرله او بس، خو شمس المشايخ ته يواځې همدومره وويل شول، چې دواړو په قرآن باندې لوړه وکړه، چې دګوند موخو ته به وفادار وي او د دوی ملاتړ او د زړه له تل څخه مرسته کوي.

په هر حال، وروسته له لږ مودې څخه (په ۱۹۱۹م. کې) پاچا د شپې له خوا په جلال آباد کې ووژل شو او په کابل کې نوی دولت اعلان شو. داسې ويل کېدل، چې د باچا لپاره د کبانو د ښکار په خانګړو غوړيو کې خوب راوړونکي توکي اچول شوي وو او د شپې له خوا شجاع الدوله هغه د ده د خوب په بستره کې وواژه، خو کله چې شجاع الدوله د پاچا دخوب له خيمې څخه راووت. يوه ساتونکي سرتېري هغه ونيو، په همدې شيبه کې سپه سالار محمدنادرخان را ورسېد شجاع الدوله يې خوشې او سرتيري يې غلی کړ (د دغې پېښې بيان د همدې کتاب په لومړي ټوک کې تېر شوی دی.)

## په امانيه نوي دولت کې محمدنادرخان

کله، چې د دربار د ګونه له پروګرام سره سم حبيب الله خان، په لغمان کې ووژل شول او نايب السلطنه د پاچا په توګه په اعلان شو. محمد نادرخان ته دنده وسپارل شوه، چې جلال آباد ته راشي او د هغه ځای پوځيان نايب السلطنه ته د بيعت کولو په خاطر چمتو کړي. نادرخان قشلې ته په رارسېدو سره يې پوځ ته د خبرو په ترڅ کې د پاچا د وژل کېدو خبر ورکړ او ويې ويل، چې: "په لغمان کې د پاچا ورور د پاچا په توګه غوره شوی دی، خو زوی يې په کابل کې وکيل دی. تاسې، چې د شهيد پاچا زامن ياست. په دې هکله څه واياست؟ آيا غوره بولئ، چې له خپل لوري يو وکيل وټاکئ، چې له دواړو لوريو سره خبرې اترې وکړي او هغه لاره، چې د ملت او پوځ په ګټه وي وټاکي."

نادرخان، چې د ډېر کلونه د همداسې يوې ورځې په خاطر د افغانستان له عسکرو او افسرانو سره ښه چلند کړی و، اوس په تمه شو، چې پوځ به همدی په خپله د وکيل په توګه وټاکي. او بيا به نو په داسې يوه مهم خط کې له دغه ډول داسې ونشول او پوځ د عسکرو په استازيتوب د هغه غوره کولو څخه ډډه وکړه، په دوی کې يو تن هراتي عسکر، چې غلام رسول نوميده، د پوځيانو له ليکو څخه راووت او سپاهيانو باندې يې غږ وکړ: "تاسې، چې سپه سالار او له پاچا سره يو ځای وئ ولې مو پرېښودل، چې پاچا ووژل شي؟ اوس، چې ووژل شو، مونږ په خپله ښه پوهېږو، چې بايد څه وکړو، کوم وکيل مو نه دی په کار." ده پسې وروسته يو بل کندهاري سپاهي، چې مامك نوميد. له ليکو څخه راووت او ويې ويل: "سپه سالار له پاچا سره د يو ځای تولو منصبدارانو په ګډون د پاچا د خون مسؤليت لري."

دغو دوو تنو سپاهيانو خبرو په ټول پوځ کې ګونګسې جوړې کړې او ټولو ومنلې، په دې توګه سپه سالار غلی پاتې شو. دا لومړی ځل و، چې نادرخان دا احساس کړه، چې له خپلې ټولې مدارا او ښه چلند

سره سره یې لاهم د افغانستان په پوځ کې باور نه دی ترلاسه کړی. دې پسې وروسته سردار عنایت الله خان معین السلطنه د افغانستان د حرب د وزیر په دریځ کې له لغمان څخه را ورسېد او د پوځ قومانده یې ترلاسه کړه او د سردار نصرالله خان د سپرلۍ په وړاندې یې د نوي پاچا په توګه د هغه تر مخې شاهي سلام وکړ.

د پوځ د غلي پاتې کېدو او د نایب السلطنه د سلطنت موده یو اځې درې ورځې وه، تر دې وخت پورې په ټول افغانستان کې د هېواد د خپلواکۍ له اعلان سره یو ځای د امان الله خان د پاچا کېدو آوازه خپره شوې وه. په ټول افغانستان کې په ټولو ولایتونو کې د افغانستان پوځ هم لکه د ولس په شان د امانیه دولت ملاتړ وکړ. تر ټولو د مخه د ننګرهار پوځیانو د غلام رسول هراتي سپاهي تر قوماندې لاندې د نایب السلطنه شاهي بیرغ راکوز او نایب السلطنه یې له معین السلطنه سره یو ځای په نظربند ډول کابل ته واستول. دا یو اځې نه، بلکې د ننګرهار پوځ د سیمې مؤقت حکومت چارې هم ترلاسه کړې او محمدنادر خان یې د هغه د کورنۍ له ټولو غړو سره یو ځای بندي او د کنډک مشر شاه علیرضا خان تر څارنې لاندې یې کابل ته واستاوه. د ننګرهار پوځ د نادرخان او د هغه د کورنۍ په بندي کولو بسنه ونه کړه، بلکې په ننګرهار او په لاره کې یې له هغوی سره تریخ چلنند هم وکړ. همداسې چلند د هرات پوځ د تره خیلي افسر شاهپور خان تر مشرۍ لاندې د هرات له نظامي نایب سالار محمدهاشم خان د نادر خان ورور او والي محمد سلیمان خان (د نادر خان د تره زوی) سره وکړ او لکه هماغسې، چې نادر خان او د هغه کورنۍ یې له ننګرهار څخه په زولنو کې تړلي او پلي کابل ته واستول. دغه دواړه هم دخره په شا په زولنو تړلي کابل ته واستول شول. البته د ننګرهار او د هرات د سپاهیانو دغه ډول چلند د نادر خان او محمدهاشم خان په وړاندې په دوی باندې د خلکو د نه باور او له هغوی څخه د کرکې لرلو نخښه وه. کله، چې یوولس کاله وروسته دوی د افغانستان سلطنت ترلاسه کړ،نو د یوه ګروم له مخې یې د افغانستان د خلکو وینې تویې او سپکاوی یې ورته وکړ او د دغه ګروم غوټې یې پرانیستلې.

پاچا امان الله خان، چې د نایب السلطنه پاچاهي ونه منله او هغه یې په مجرد شکل تر هغو بندي کړ تر څو، چې مړ شو، خو د نادر خان په وړاندې پخوانۍ ژمنې ته وفادار پاتې شو، حال دا، چې محمدنادرخان لږ وروسته دا ټول هېر کړل او د امان الله خان په له منځه وړلو کې یې ډېرې هڅې وکړې. امان الله خان دغه بندیان شوې کورنۍ کابل ته یو پړاو رانږدې کېدو سره په دولتي ګاډیو کې ارګ ته بوتلل او سمدستي یې د بندیانو په نوم د ارګ شمالي برج کې په ارانه او محفوظ ډول وساتل. آن دا چې یوه شپه یې په خپله په بدلو جامو کې د هغوی لیدنه وکړه. پاچا هراتي سپاهي غلام رسول، چې د سپه سالار دښمن و، په ظاهري توګه د هغه د خدماتو په بدل کې د پنجشیر د سیمې د حاکم په توګه مقرر کړ، خو لږ وروسته د یوې ډلې له خوا، چې د غلو نقاب لاندې ورغلي وو، ووژل شو... مامک کندهاري سپاهي هم په پټو لاسونو ورک شو. په ننګرهار کې پاڅون کوونکي کنډکونه د افغانستان په نورو نظامي قطعاتو کې وویشل شول. او سره تیت او پرک شول او په پای کې له نظامي دندو څخه لرې کړل

شول او وروسته بیا د هغوی پاتې کسان، چې د محمد نادرخان د سلطنت پر مهال وپېژندل شول، په بېلا بېلو بنو له منځه یوړل شول.
پاچا امان الله خان د افغان- انګلیس په دریمه جګړه کې نادرخان ته په جګړه کې د ګډون او د نړیوال ویاړ د ترلاسه کولو چانس ورکړ او د حرب تر فتح کولو وروسته یې د خپلواکۍ ځلې د هغه په نوم جوړ او خپلې خویندې یې د سپه سالار ورونو (شاه ولیخان او شاه محمود خان ته) واده کړې. سپه سالار د حربیې وزیر او ورونه یې د پوخ جنرالان شول. دا ټول ددې لامل شول، چې د نادر خان نوم په ټول افغانستان کې وپېژندل شي. سره له دې، چې سپه سالار محمدنادر خان په جګړه کې (ټل) سنګر پرېښود او غوښتل یې، چې په شا ولاړ شي، خو شمس المشایخ دهغه آس مخه ونیوله او وربانديې غږیې وکړ، چېرته ځې؟ نادرخان وویل: "همدغه شیبه سرحدي مخبر راورسېد او خبر یې راوړ، چې د انګرېزډېر زیات پوځونو راټول شوي دي او اوس به برید پیل کړي.
شمس المشایخ ورته وویل: تر دې بنه خبره نشته، نو آیا مونږ او تاسې شهادت نه غواړو؟ سپه سالار راړ شو. ودرېد او جګړه پیل شوه، انګرېزان مات شول، خو بیا هم په ټل باندې د انګرېزانو د بیا ځلې برید پر مهال سپه سالار په شا راغی او نیول شوې کلا یې دښمن ته ور پرېښوده. هغه د شا تګ په حال کې و، چې د پاچا فرمان را ورسېد او د دواړو دولتونو تر منځ یې د رسمي روغې خبر راوړ او همدې خبرې د سپه سالار شهرت وژغوره.
همدا رنګه شاه ولي خان د وزیرستان په محاذ کې د مجاهدینو د اشتباه او کرکې وړ وګرځېد، نو ځکه یې د محاذ له قوماندانۍ څخه لرې کړ او په یوه کچره یې د هغه ورور سپه سالار ته واستاو او مجاهدینو بیا دغه جګړه په بري سره وګټله. د پیو اړو قوماندان شاه محمود خان، چې کله خوست ته ورسېد، لکه د خپل بل ورور په شان تر شك لاندې راغی او د پکتیا حاکم سردار عطا محمدخان (چې په ګوش بریده سره یادید)، وغوښتل، چې د پوځ په زور هغه له ورانکاریو څخه واوړي او ملي جګړه "دښمن په وړاندې په زړورتیا سره پر مخ بوځي، دا ځکه چې عطا محمدخان د خپل پلار (د امیر عبدالرحمن خان پر مهال د پکتیا والي سردار شیریندر خان) له مهاله د خپل پلار په شان د انګرېزانو دښمن و، خو سپه سالار نه پرېښود، نو ځکه یې ډېر ژر د عطا محمد خان لاس له چارو څخه رالنډ کړ او خان ته یې ور وغوښت او هلته یې د یوه بیکاره په توګه خان سره وساته، آن دا چې هغه یې ځوان او خوشباوره پاچا ته د انګلیس پرست په توګه ور وپېژانده. شاه محمود خان په خپلو یادښتونو کې د (خلص معلومات زمان جهاد در جبهه جاجی) کې په څرګندو ټکیو سره لیکلي دي چې:
"عطا محمد خان د جهاد له معاملې سره ډېره مینه نه ښودله او ورانکاري یې ډېره کوله او سرتیري یې په پټه لمسول."
(و.ګ: عرفان مجله "آزادی په نوم" د خپلواکۍ د ۴۳ مې کلیزې په مناسبت دکابل چاپ ۱۱ مخ)
د ۱۹۲۱م. کال په پای کې وروسته تر هغه، چې له انګلیسانو سره د کابل تړون لاسلیك شو او په مجموع کې د بهرني سیاست بوختیاوې لږ کمې شوې، پاچا د قطغن بدخشان، بلخ، میمنې، هرات او کندهار

Scanned by CamScanner

ولایتونو ته د چارو د ښه سمون او تولنیزې پرمختیا په خاطر پلاوي واستول، چې د هر یوه په سر کې یو وزیر و. قطغن او بدخشان ته د حرب وزیر محمدنادرخان سپه سالار. د مزار او میمنې ولایتونو ته عدلیه وزیر محمدابراهیم خان، د هرات ولایت ته د عمومي امنیت وزیر شجاع الدوله خان او کندهار ته د کورنیو او وزیر عبدالعزیز خان واستول شول. دغو وزیرانو دنویو پروګرامونو په عملي کولو کې بریالي نه وو، خو په هرات کې یو څه بریالي وو.

## د دولت له چارو څخه د محمدنادرخان لرې کول

په قطغن کې نادرخان ته داسې نسبت ورکړل شو، چې هغه به ماورالنهر کې له انوربېګ سره اړیکې ټینګې کړې دي، په داسې حال کې، چې انوربېګ دشوروي د جماهیرو اتحاد په وړاندې فعالیتونه کول. دا ډول اړیکې نیول د افغانستان او شوروي تر منځ د دوسانه اړیکو د خرپړتیا لامل کېدې.

په هر حال، نادرخان د ۱۹۲۲ د ۱۹۲۲م. کال په وروستیو کې وروسته تر یو څه کارونو او د چارو له سمبالولو بېرته کابل ته راستون شو. له دې څخه وروسته ورو ورو له نادرخان سره د پاچا دوستانه او د ملګرتوب اړیکې خړې پړې شوې، تر څو په ۱۹۲۴م. کې یې د حربیې له وزارت د هېواد له نورو کورنیو چارو څخه لاس لنډ کړل شو. حال دا، چې دده ورونه لا یو کال مخکې له نظامي چارو څخه لرې کړل شوي وو. اوس په څرګنده ویل کېدل، چې نادرخان د پاچا له اصلاحي پروګرام سره او په ملکي او نظامي چارو کې دنوي سمبالښت او د افغانستان له بهرني سیاست سره، چې له شوروي د نږدې کېدو او له انګلیسانو سره له نږدې کېدلو د ځان ساتنې پر بنسټ پیل شوی و، مخالف دي او د ۱۹۲۳م. کال د پکتیا په اړ و دوړ کې دده لاس و، په داسې حال کې، چې د انګلیس دولت هم په څرګند ډول په دغه اړ و دوړ کې لاس درلود.

له پاچا او د هغه د همفکرانو (محمد ولي خان، محمودطرزي او نورو) سره د نادر خان د مخالف علت داسې وښودل شو، چې: نادر خان حکومت په اداره کې د ډېر لږ بدلون غوښتونکی و، چې باید د محافظه کارۍ په بنسټ ډېر ورو ورو عملي شي او د ځمکوالو او طفیلي قشرونو ګټو ته کوم تاوان پېښ نشي او د انګلیس له دولت سره هم د نږدېوالی وساتل شي. دا هم باید په یاد وساتل شي، چې په اصل کې په خپله نادرخان غوښتل، چې د افغانستان تاج او تخت ترلاسه کړي او په پټه یې د امانیه دولت راپرځولو ملا تړلې وه او غوښتل یې، چې د واك په ترلاسه کولو سره، هېواد په یوه ارتجاعي حالت سره اداره او په بهرني سیاست کې د انګلیس په پلوي یوه اړخیزه تګلاره پر مخ بوځي.

په هر حال، پاچا مخکې تر دې، چې نادر خان له حرب وزارت څخه لرې شي، لومړی یې د افغانستان د آزادو سرحداتو چارې، چې د افغان او انګلیس د سیاست برخه کې یې ډېر زیات اهمیت درلود، د هغه له واك څخه وایست او دغه چارې یې د هغه سیاسي سیال محمد ولي خان ته وسپارلې، دې پسې وروسته یې د نادر خان پر ځای همدا محمد ولي خان، چې یوائې یو سیاستوال و. د حرب د وزیر په توګه وټاکه (وروسته یې د سرحداتو چارې له ولي محمد خان څخه هم واخیستې او محمود خان یاور ته

یې وسپارلې، خو دغه کم کفایته سړي دغه مهم کار خراب کړ. حال دا، چې د سرحد د اداري چارې په ټوله معنا سره په ډیلي کې د افغاني پخواني جنرال قونسل حاجي محمد اکبرخان یوسفي (د سرحداتو رئیس) په لاس کې وې (نوموړی هغه څوك و، چې وروسته بیا د محمد نادرخان د سلطنت پر مهال د سوداګرۍ وزیر شو.)

ددغې ټولې هغې بې باوري سره سره، چې پاچا د نادرخان او د هغه د کورنۍ په هکله درلود بیا یې هم هغه پخوانۍ سیاسي ژمنې په پام کې ونیولې، یعنې کومه سزا یې ورنه کړه او نه هم د هغه په ضد تبلیغات وکړل. په ۱۹۲۴م. کال کې یې نادرخان د افغاني مختار سفیر په توګه پاریس ته واستاوه او د هغه ورور محمد هاشم خان یې د مسکو سفارت ته وګوماره، حال دا، چې کله چې نادرخان او دهغه ورور واك ترلاسه کړ د امان الله خان په وړاندې یې هر ډول غچ اخیستونکې ناوړه تبلیغات او کړنې وکړې او آن دا، چې افغاني ټولنې ته یې د هغه انقلابي خدمات (ملي خیانت) ونوماوه او د هغه ټول رېښتیاني پلویان یې په افغانستان کې وټکول. د باچا چلند ددغې کورنۍ په وړاندې تر ۱۹۲۴م. پورې په دغه ډول سره پر مخ تلل، خو په دې کال کې یې اړیکې ښځي ورسره پرې شو. نادرخان د پاریس د سفارت له خود مختارۍ، ورور یې د مسکو له سفارت او مشر ورور یې محمد عزیزخان په فرانسه کې د افغاني محصولاتو د نظارت له چارو څخه لرې کړل شول ***(د ۵۵ مخ اخري کرښه لوړه ورانه شوې)*** یو بل ورور په کابل کې د معین په توګه د کورنیو چارو په وزارت کې پاتې شو. نادرخان له پاریس څخه نیس ته ولاړ، هلته یې یوه ودانۍ واخیسته او په ښکاره یې افغانستان پرېښود او وروښه یې محمدهاشم خان او شاه ولیخان هم ورسره یو ځای شول. په ۱۹۲۷م کال کې پاچا اروپا په سفر ووت، نادر خان او وروڼه یې د هغه د هر کلي لپاره له نیس څخه د (نیپلز) تر بندر پورې ورغلل، خو د باچا سوړ وضعیت ورسره دوام درلو.

په ۱۹۲۸م. کال کې په افغانستان کې پریکنده سقوي اړ و دوړ پیل شو، پاچا په کندهار کې میشت شو. اغتشاشي دولت د لیك او استازي (د نادر خان د تره زوی احمدشاه خان) په واسطه نادر خان کابل ته راوغوښت او هغه یې د پاچا امان الله خان په وړاندې اغتشاشي حکومت کې ګډون کولو ته راوباله. دا مهال د افغانستان خلکو ته څرګنده شوه، چې نادرخان او د هغه کورنۍ د پاچا په ضد دي. همدا رنګه د سقو زوی د نادر خان ورور شاه محمود خان، چې د سقو له زوی سره جګړه کې د (بې بې مهرو) په سنګر کې د دولت قوماندان و، وروسته یې د سقو زوی ته بیعت وکړ او د خپل تره د زوی احمدشاه خان سره یو ځای یې د امان الله خان د تکفیر په اعلامیه کې (د ۱۳۴۷ق. کال د شعبانا د شپږمې نېټې اعلامیه، دکابل چاپ) لاسلیك وکړ. هغه یې د پکتیا د خلکو د بیعت د ترلاسه کولو لپاره پکتیا ته واستاوه.

## خو د افغانستان د اغتشاشي په دوره کې محمد نادر

همدا، چې د سقو زوی کابل ونیو او پاچا کندهار ته وتښتید (د ۱۹۲۹ جنوري) سپه سالار افغانستان ته د راتګ هڅې پیل کړې. لږ وروسته له خپلو ورونو محمد هاشم خان او شاه ولیخان سره له نیس څخه را روان شول او بمبئ ته د ۱۳۰۷ل. کال د سلواغې په ۲۱ مه را ورسېدل. له هغه ځایه د لاهور په لاره باندې پېښور ته راغلل. محمد هاشم خان یې ننګرهار ته واستاوه او په خپله د کوهاټ له لارې پکتیا ته ولاړ. شاه محمود خان له ځاځیو څخه پاره چنار ته د نادر خان مخې ته ورغی، نادر خان خوست ته راورسېد (۱۳۰۷ل د کب ۱۹مه) او دلته یې فعالیتونه پیل کړل. دده لاسوندی هغه فرمان و، چې د پاچا امان الله خان په لاسلیك ده ته استول شوی و، تر څو له فرانسې څخه د شوروي اتحاد په لاره کندهار ته راشي او له پاچا سره یو ځای شي (د پاچا امان الله خان یو شمېر پټو مخالفینو درباریانو پاچا ته دغه فکر ورکړی و، تر څو په دې توګه نادرخان وکولای شي، چې په رسمي توګه افغانستان ته راشي.) خو کله چې نادرخان په فرانسه کې دغه فرمان ترلاسه کړ په بېړه د هندوستان له لارې افغانستان ته راغی او په دې وخت کې یې پاچا ته په ځواب کې ولیکل، چې د پاچا د امر اطاعت کوم، خو د یو شمېر روغتیایي ستونزو له کبله غواړم، چې د هند له لارې افغانستان ته راشم، نه د شوروي له لارې په هغه ورځ، چې نادرخان په بمبئ کې پښه کېښوده. بیا تر هغې ورځې، چې لاهور څخه راتېر او بیا له پېښور څخه پکتیا ته راغی او بیا کابل ته راورسېد، د خبریالانو د افغانستان خلکو او د هندوانو او مسلمانانو په وړاندې یې خپله موخه داسې بیانوله:

"زه افغانستان ته په خپل دغه راتګ سره کوم مشخص مقصد نه لرم، زه تاج او تخت نه غواړم زه یو خیر غوښتونکی درېمګړی یم. زه د امان الله خان د اوسني حال څخه په تأسف کې یم زه به د هغه د شخص خیر او ټولنې د ښېګڼې لپاره کار وکړم. زما موخه په افغانستان کې سوله او امنیت ټېنګېدل دي، ملت چې هر څوك د پاچا په توګه مني زه هغه ته بیعت کوم. زه به د پاچا (امان الله خان) په خلاف کوم عمل ونه کړم."

(و. ګ. نادر افغان کتاب د کشککي تألیف د کابل د ۱۳۱۰ کال چاپ ۳۴۹- ۳۵۱ مخونه او کله، چې وطنپالو هندوستانیانو هغه په عام محضر کې کندهار ته د تګ او پاچا ته خدمت کولو ته وباله. سپه سالار ځواب ورکړ، چې: "په دې برخه کې په ما باور وکړئ او ما خپل فکر ته پرېږدئ تر څو هر ډول چې مناسبه او ګټوره وه هغسې به وکړم"

هندویانو همدا ویل، چې سپه سالار باید پاچا سره مرسته وکړي. نادرخان ژمنه وکړه، چې په "هغه څه چې ملت یې غواړي، زه یې غواړم" د هند د هغه مهال ملي ورځپاڼو له نادرخان سره دغه ټولې مرکې په تفصیل او پوره ډاډ د هند د خلکو د خبرولو لپاره خپرې کړې، دا ځکه چې د هند خلکو د امان الله خان پاچاهۍ ته هیلې لرلې او ورته لیوال وو. دا ځکه چې هغوی امان الله خان د برتانیا د ځورونکي امپراتورۍ د استعمار په وړاندې په ټول ختیز کې د خپلواکۍ غوښتنې د جګړې د لومړني اتل په توګه پېژاند او د هندوستان له خپلواکۍ څخه یې د هغه ملاتړ څو ځله احساس کړی و.

Scanned by CamScanner

نادر خان کټ مټ هماغه وېناوې، چې په هندوستان کې کړې وې، د اعلامیو له لارې یې هغه له بېبڼ څخه افغانسان کې هم خپرې کړې، خو په دغو کورنیو اعلامیو کې یې دا هم اضافه کړل، چې باید د افغانستان خلك د کورنۍ اړ و دوړ او جګړو پېښه د روغې جوړې او تفاهم له لارې هواره کړي، نه د جګړې په زور، خو کله چې (د ۱۹۲۹م. کال د اکتوبر په ۱۲مه یعنې د ۱۳۰۸ل. د تلې په ۲۳ مه) کابل ته راغی او په عامه سلامخانه کې د کابل د خلکو غونډې ته ورسېد او هلته ځو تنو ټاکلیو ګومارل شویو ورته د سلطنت وړاندیز وکړ، نادرخان پرته له دې، چې هغو ژمنو ته پام وکړي، چې د افغانستان خلکو ته یې کړې وې پر ځمکه یې تندی کېښود او د دغه لوی نعمت شکر یې وکېښ، حال دا، چې هغه ځو ځو ځله ویلي وو، چې "د سقوي د زوی په وړاندې مبارزه کې یې موخه د افغانستان امنیت او د سولې بېرته راتګ دی، نه د ځان لپاره د تاج او تخت غوښتل. د پاچا غوره کول د افغانستان د ټول ملت کار دی، تر څو هر هغه څوك، چې د سلطنت وړ بولي هغه، هغه غوره کړي او زه به دغه ډول پاچا ته یو بیعت کوونکی اوسم، چې هغه د ټول ملت انتخاب وي"

د افغانستان د روڼ اندو له نظره د نادرخان له پخوانیو ژمنو څخه دغه تېرېدل یو ښکاره خاینانه عمل و، دا ځکه چې دوی پوهېدل، چې د یوه ښار د یو څو تنو ښه راغلاست ویونکو یوه ډله د پاچا د غوره کولو لپاره د ټول افغانستان د ټول ملت لویه جرګه نه ده او همداسې هم د دوه درې تنو سیاسي تالي ځټو (لکه غلام محمد خان وردګی، وروسته بیا د تجارت وزیر) غړونه، د هېواد د میلیونو خلکو غږونه نه دي.

په هر حال، محمدنادر خان د ۱۹۲۹م. کال د اکتوبر په شپاړسمه (د ۱۳۰۸ل. کال د تلې په ۲۳مه) په کابل کې پاچا او د تلې په ۲۵مه یې یوه موَقته کابینه جوړه کړه (دا ځکه چې راتلونکی صدراعظم محمدهاشم خان لا تر دې مهال پورې په کندهار کې و) او د لړم په ۱۸مه یې شاه ولي خان د پاچا د وکیل په توګه (لکه محمد ولي خان، چې د امان الله خان وکیل و) کوه دامن او کوهستان (کاپیسا او پروان) ته واستاوه تر څو سمدستي د هغه ځای جګړه مارو خلکو ته (چې د سقوي اړ و دوړ مرکز و) د عفوې اعلان وکړي. د لړم په ۲۳مه د محمد هاشم خان کابینه اعلان شوه او په افغانستان کې د دولت پروګرام تر تطبیق لاندې راغی. په دې توګه په افغانستان کې د انګلیس له خوا د نظامي اشغال نه ترلاسه کېدونکی د یوې پېړۍ پلان د سیاسي اشغال په یوه پلان باندې بدل او عملي شو، دا ځکه چې په ټول افغانستان کې هېڅ داسې بل څوك یا بله کورنۍ نه وه، چې د هغو واکمني دې لکه د نادرخان د کورنۍ د واکمنۍ په شان د انګرېزانو سیاست او استعماري غوښتنو سره برابره وي.

د دوی غور نیکه سلطان محمد طلایي د نولسمې پېړۍ په پیل کې د پنجاب د سکهـ دولت چوپړ ته ورغی او د افغانستان د پېښو ولایت یې ورباندې وپلوره، د همدې سلطان محمد خان طلایي زوی یحیی خان د همدې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د خپل زوم امیر محمد یعقوب خان په لاس د ګندمك ترون لاسلیك کړ او د فوشنج، لنډي کوتل او کُرمې ولایتونه یې انګرېزانو ته ورکړل. د دغه سړي زامنو آصف خان او یوسف خان په انګلیسي هند کې د انګرېزانو د ښکېلاك تر سیورې لاندې (د آصف خان زامن) د نولسمې پېړۍ په پای کې په انګلیسي هند کې وزېږېدل او د انګرېز د دولت په پیسو ستر شول

Scanned by CamScanner

او ورو زل شول او بیا د غه کورنۍ د انګرېزانو د دولت په زور د شلمې پېړۍ په پیل کې په عبدالرحمن خان باندې په جبري توګه وتپل شوه او په افغانستان کې مېښت کړل شوه، تر څو چې په پای کې د زرګونو افغانانو د وینو په تویېدو او د هېواد د ورانېدو په بدل کې د دغه بدمرغه هېواد د سلطنت چارې دغې کورنۍ ته وسپارل شوې او د افغانستان غولول شوي ملت د نیمې پېړۍ په ترڅ کې هغه څه ولیدل، چې د شلمې پېړۍ هېڅ آسیایي هېواد هغه څه نه وو لیدلي.

## دریم
## د نادرشاه د دولت په اړه د افغانستان د خلکو نظر

مخکې تر دې، چې محمدنادرشاه د خکومت او سلطنت په چارو پیل وکړي، د هېواد خلکوعملاً ولیدل، چې اغتشاشي حکومت هېواد د نیستۍ پر لوري بیایي او پاچا امان الله خان د خلکو له غوښتنې سره د اړ و دوړ په وړاندې ونه درېد او په پای کې یې د خپل ژوند په خاطر بهر ته سفر وکړ او د سقو د زوی په اغتشاشي حکومت باندې د محمدنادرخان حکومت برلاسی شو، خو خلکو په نادرخان باور نه درلود، په تېره بیا روڼ اندو ده ته په شك سره کتل. د هغې ورځې په لومړۍ شپه باندې، چې سپه سالار د پاچا په توګه اعلان شو. په لاهورۍ دروازه کې د کابل یو شمېر د روڼ اندو ډلې (جوان افغان) یوه ګوندي غونډه زما (لیکوال) په کور کې جوړه کړه او د خپل تګلوري په هکله یې د دولت په وړاندې نوې طرح جوړه کړه. دغه خبرې اترې تر نیمې شپې پورې اوږدې شوې. په دوی کې یو هم غلام محی الدین خان آرتی و، چې ویل یې: "د افغانستان پېښنه په دومره سادګۍ سره نه ده څومره چې تاسې فکر کوئ؟ بهرني پټ لاسونه د هېواد په برخلیك تاکلو کې لوی لاس لري، امانیه دولت چې انقلابي پنه او نیك نیتونه لرل، کم تجربه او مغرور وو، بهرني لاس هغه د کورنیو عمالو په لاسونو کې له سمې واړاوه او دده په لاس یې ورته خپل قبر وکیند. آیا احمد علیخان لودین ښاروال (د بلدیې رئیس)، والي علي احمدخان د دولت د شورا مشر د ګمرك مدیر حسن افندي، د سواګرۍ وزیر علي محمدخان او نور په لسګونو هندیان او آیا آن یو شمېر بیسوادان لکه سوداګر شیر احمدخان او نور څوك وو؟ چې لس کاله لکه مار د دولت په لستوڼي لوېدل؟ څرنګه انګلیس دا زغملای شوه، چې دننه په افغانستان کې دې مترقي پروګرامونه او په بهر کې خپلواك بهرني سیاست په بریالیتوب سره تطبیق شي؟ آیا انګرېز کولای شول، چې خپل ګاونډ کې یو پیاوړی افغانستان ولري؟ د انګلیس دولت لس کاله هڅې وکړې او په پای کې یې امانیه دولت د هغه له پروګرامونو سره یو ځای له منځه یووړ. وروسته له دې څخه انګرېزان د افغانستان له لوري ډاډه شو، وروسته تر دې به تاسې په افغانستان کې داسې ویجاړوونکي پروګرامونه وګورئ، چې بېلګه به یې په افغانستان کې ډېر لږ وي، نو ځکه هر هغه څوك یا ګونه چې له دغه نوي دولت سره مرسته او ملګرتوب کوي، معنا یې داده، چې په جنایت کې ورسره شریك دي."

ما (میر غلام محمد غبار) وویل: "په ایران کې ددې لپاره، چې د قاجاریانو د لړۍ پر ځای د یوه بې نومه ضابطه رضا خان د کېناستلو لپاره لاره هواره شي، په پیل کې ضیاءالدین طبا طبایي لکه د سقو د زوی په شان ډګر ته راوستل شو. تر څو د ایران مخور او خلك ښه وځوروي او د یوه نوي رژیم نسلو ته یې چمتو کړي. په دې توګه رضاخان د ایران یو ظالم او دېر ځواکمن پاچا شو، حال دا، چې پوره سواد یې نه

درلود او له سیاسي تجربې، تحصیل او کلتور څخه بې برخې و همدغه وضع به یوه؟؟؟ دادی اوس په افغانستان کې تطبیق شو، نو ځکه یو اځې له دغه نوي دولت سره مرسته نه کول او هغه سره نه یو ځای کېدل کافي نه دي، دا ځکه چې ناپېیلتوب یو څوك په نندارچي بدلوي، بلکې ددې پر ځای باید پرېکړه وشي، چې باید هغه دولت په ضد مبارزه وشي."

تاج محمد پغماني وویل: "کوم نادرخان، چې زه له نږدې څخه پېژنم، افغانستان باید له هغه څخه د ښېګڼې هیله ولري. هغه د افغانستان پر ملت باندې د غچ اخیستلو پور لري، د خلکو بیخ به وکاږي د هر وطنپال وګړي او ګوند دنده ده، چې تر خپل وس پورې ددغه تپل شوي رژیم پر ضد خپل ملي مبارزې ته دوام ورکړي."

باروت جوړونکی فیض محمد خان وویل: "د نویو واکمنو د پېژندنې لپاره همدومره بس ده، چې مونږ د کابل د نیولو په ورځ د جنوبي جنګیالیو تر مخې دوه تنه هندوستان مخبر (جاسوسانو) (الله نواز او شاه جي) له شاه ولي خان او شاه محمود خان سره یو ځای اوږه په اوږه ولیدل. تاسې باید پوه شئ، چې ورروسته تر دې به د افغانستان حکومت د هندوستانیانو په لاس کې وي، نو ځکه د (جوان افغان) لومړنی او وروستنی دنده همدا ده، چې پردیو په وړاندې، چې په هر نقاب کې وي مبارزه وکړي."

عبدالرحمن خان لودي وویل: "څه، چې ملګرو وویل، تر اوسه پورې یوه نظریه ده، نظریه باید په تجربه او عمل کې تصدیق شي، ددې موخې لپاره صبر او زغم په کار دی باید د هېواد اداري وضعیت وکتل شي او وڅېړل شي، تر هغه وخته باید زمونږ ګوند انتظار وکړي او د ګوند غړي باید په حساسو دولتي دریځونو لکه په کابینه کې غړیتوب، نایب الحکومه کې او نورو کې د دندې له ترسره کولو ډډه وکړي.

محمد اسمعیل خان په کنایي سره وویل: خپله یې په کلي کې نه پرېښود ویل یې آس مې د ملك کره وتړئ ګومان مې نه راځي، چې موجوده حکومت به پرته له محمدزي او هندوستاني څخه بل چاته حساس پستونه ور نه کړي، وروسته تر هغه، چې دولت خپل پروګرام عملاً پیل کړ او د بهرنی او کورنی کړنلارې یې ځرګندې شوې، مونږ او تاسې وروسته له هغه څخه د خپل ګوند تګلاره ټاکو او د مبارزې لارې چارې ښکاره کوو.

په پای کې غونډې د اکثریت په رایو سره پرېکړه وکړه، چې د نوي دولت په ضد یوه کلکه پټه مبارزه پر مخ وړل کېږي، خو اوس لپاره دې سمدستي ځرګنده مبارزه د لنډ مهال لپاره همداسې معطل پرېښودل شي، تر څو ددې بحران دیګ له جوش څخه ودرېږي او نوې واکمنه دستګاه په ثابته پنه خان خلکو ته ور وپېژني. نو هغه مهال به ګوند د خپلې ځرګندې مبارزې تاکتیك د هېواد دننه د خپلې وروستۍ موخې دترلاسه کولو لپاره وټاکي. البته د نوي دولت د رښتینې څېرې د پېژندنې لپاره ډېر وخت انتظار نه و په کار، بلکې دولت په خپله د خپلو پروګرامونو په تطبیق کې بېړه کوله. په تېره بیا روڼ اندو په وړاندې یې چې په سیاست کې یې بې تجربې او په شمېر کې یې ډېر لږ بلل د خپلواك په لومړي کال یې خپل لومړنی ګوزار په همدوی باندې وکړ او (جوانان افغان) ګوند یې په نخښنه کړ. دا مهال غلام محی الدین خان ارتي د شوروي له لارې څخه کمایي ترکیبي ته تللی و او زه په برلین کې وم، چې پاچا عبدالرحمن لودي (هغه مهال د کابل د بلدیې رئیس و) د دلکشا مانۍ ته ور وغوښت، سم له رسیدو سره یې همالته امر وکړ او هغه یې د ساعت له برج سره نږدې د نظامیانو په ټوپکو وویشت او جدي ورته په خره باندې په شور بازار کې دده ښځې ته ور واستاوه. د هغه مړی، د شهدای صالحین په هدیره کې بې له کوم نوم و

نشان ښخه خښ شو. همدا رنګه تاج محمد خان پغماني پاچا وروغوښت او د شیرپور په غونډۍ باندې یې د توپ په خولې پورې وتاړه او وایې لوزاد. فیض محمد خان باروت ساز، چې مخکې یې د خپلواکۍ په جشن کې خپله یوه پښه په اور لوبه کې له لاسه ورکړې وه، له یوې پښې ښخه زولانه شوا او بیا د توپ خولې کې ټوټه ټوټه شو. د برلین یوې ورځپاڼې د دغه یوې پښې لرونکي سړي عکس د توپ په خوله کې په حیرانتیا سره خپور کړ او له دغه عمل څخه یې کرکه څرګنده کړې وه. فیض محمد خان توپ ته نږدې نادرشاه ته ښې سپکې سپورې وویلې.

ټولې دغه سزاګانې پرته له استنطاق او بې له محکمې او پرته د شهادت او اسنادو څخه پرته له دې، چې په ټاکلي تور تورن وي عملي کېدې. د عبدالرحمن لودي په هکله یوه توطئه ترسره شوې وه. دغه توطئه د سوداګر شیراحمدخان په لاس جوړه شوې وه، چې د اجورې په ورکولو سره یې یو جارچي اړ کړ، چې د بلدیې د رئیس (ښاروال) عبدالرحمن له لوري د کابل په بازارونو کې جار وهي: "د شمالي (کوه دامن او کوهستان) خلکو بغاوت کړی او تر کابل پورې رارسېدلي دي، تاسې د کابل خلک هوښیار اوسئ او له ځان څخه دفاع ته چمتو اوسئ او هټۍ وتړئ) حکومت دغه چاره د ښاروال له لوري د خلکو لعسونه وګاڼه، په خپله ښاروال (عبدالرحمن) یې وواژه، کورنۍ یې وپلټله او د هغه قلمي آثار یې ونیول وروسته بیا د کورنیو چارو وزیر محمد ګل خان مومند د کابل د چوب فروشۍ د جومات په منبر وخوت او ملته یې د یو تن زندیق او الحادي (عبدالرحمن) په هکله وینا وکړه او یو بوتل یې خلکو ته وښود او ویې ویل: "دا د هغو شرابو بوتل دی، چې عبدالرحمن له کور څخه ترلاسه شو" د اصلاح رسمي جریدې هم د ۱۳۰۹ل. کال د زمري د دریمې ۲۷مه ګڼه کې داسې ولیکل: "د هغه خیانت له لامله چې د عبدالرحمن ښاروال له خوا د ټولنې د ګټو او ښېګڼو په ضد په وینا او لیکلې بڼه (؟) او عملاً د کوه دامن او کلکانو د کلي د اشرارو په اغتشاش کې ولیدل شو. نوموړی په اعدام محکوم شو او د هغه د خیانت تفصیلات به په راتلونکي ګڼه کې خلکو ته خپاره شي. انشاءالله تعالی" خو خلکو ته د خیانت خپرول هېڅکله عملي نشول، خو په بله اونۍ کې یواځې د عبدالرحمن د ملګرو فیض محمدخان ناصري او میرزا محمداسمعیل خان په جعلي لاسلیک سره یوه ابلاغیه د انیس په جریده کې خپره شوه، چې ګواکې دوی تصدیق کوي، چې عبدالرحمن لودي خاین دی او د اعدام مستحق و، حال دا، چې ناصري او میرزا دواړو ویل، چې دغه سند جعلي دی او دوی هېڅکله هغه نه دی لاسلیک کړی. دې پسې وروسته د اصلاح جریدې خبر خپور کړ، چې: "د عبدالرحمن لودي یو ملګری د دربار د وزارت لیکوال امیرعلي احمد د شراب څښلو په تور بندي شو" وروسته بیا د ګوند نور څو تنه غړي، چې د دولت وپېژندل، هم په سزا ورسول شول، په دوی کې عبدالرحمن خان څو کاله په زندان کې وساتل شو او سعدالدین خان وکیل په زندان کې په کړاوونو کې بوډا شو، محمد انور خان بسمل کلونه کلونه په زندان کې تېر کړل، تر څو چې له کاره ولوید او عبداللطیف خان فرقه مشر له اردو څخه وایستل شو، میرزا غلام جیلاني خان، چې د زندان زغم نه درلود په پای کې تسلیم شو. غلام محی الدین خان آرتي څو کاله وروسته له ترکیې څخه هند ته راغی او په پېښور کې یې، په پټه سره په ټوپک باندې وویشت. زه (امیر غلام محمدغبار)، چې کله له جرمني څخه کابل ته راغلم، ما هم لس کاله زندان او زولانه، تبعید او له ښوونځي څخه د ماشومانو ایستل کېدل او د دولت له ماموریت څخه زما د خپلوانو لرې کېدل وزغمل، که چېرې د عبدالخالق خان د تومانچې ګولۍ نادرشاه نه وای وژلی، زه او د موتې زندان نور بندیان ټول اعدام کېدلو.

Scanned by CamScanner

د کابل نورو سیاسي کړیو هم لکه د (جوانان افغان) په شان د نوي دولت په هکله چندان ښه نظر نه درلود.

پروفیسر غلام محمد خان میمنه کي (انځورګر) د شاه زار په جګړه کې د سقویانو په لاس د نادر خان د ماتې پر مهال د محمد ولي خان وکیل لیدلو ته ورغلی و، چې هغه دا مهال په یواځېتوب کې اوسېد او د دغې ماتې په هکله یې خبرې کړې وې محمد ولي خان ورته ویلي وو، چې: "نادر خان هرومرو کابل نیسي او پاچا کېږي، نو بیا به خلك وګوري چې افغانستان څخه هندوستاني بازار جوړ شوی دی."

سوداګر شیر احمد خان چې عبدالرحمن لودي په ضد یې دسیسه جوړه کړه څوك و؟ شیر احمد کابلي په اصل کې یو بېسواده، خو ډېر ځیرك فعال او ظریف سړی و، چې پرته له کومې لومړنۍ پانګې څخه سوداګر شو او ورو ورو یې د امانیه حکومت په چارواکیو کې پېژندل وشول او په هغو یې اغېزه وکړه. په سقوي اړه.و دوړ کې د انګرېزانو په الوتکه کې پېښور ته ولاړ او نادرشاه پر مهال بېرته راستون او د ښکېلاك او د حکومت په ګټه یې په ښکاره او په پټه توګه فعالیت پیل کړ او په دې توګه یې لویه شتمني وګټله. نوموړي یو شمېر ملګري هم لرل، چې وروسته بیا هر یو د ډېرو شتنو خاوندان شول لکه عبدالرحیم خان قتاد، محمد سرور خان هوتلي (د نصوار پلورونکي عبدالغني خوریی) غالۍ پلورونکی محمد شریف خان، محمد حسین خان (بچه کوسه) او نور. همدا رنګه له نږدې ختیځ څخه نوي راغلي د ګمرك مدیر (حسین افندي) هم د شیر احمد خان نږدې ملګری و، چې هغه بیا په خپله د رسمي درېځونو لرونکې یوه ډله ملګري لرل لکه محمد نعیم خان نایب سالار بدخشاني، حافظ عبدالغفار خان کابلی، علي احمد خان (د احمد علي خان لودي ورور) فقیر خان آرتي او یو شمېر نور.

Scanned by CamScanner

# څلورم
# د نادرشاه د رژیم ځانګړتیاوې

مخکې تر مخکې باید په دې باندې وپوهېږو، چې نادریه پروګرامونه له یوې د هېواد دننه د غبرګونو له لامله او له بل پلوه د نړېوالو سیاسي بدلونونو له کبله، نه یوازې د تاکتیکونو بدلون ته اړ کېدل، بلکې یو داسې وخت هم راغی، چې په زور سره بدلون ته اړ وتل. له دې ټولو سره سره دغه دولت په خپلو لومړنیو ۲۵ کلونو کې لاندینې پړاوونه تېر کړل:

**لومړی**– د ارتجاع او اختناق ټینګښت او د دهشت ویرې او ترور د ترسره کولو پړاو:
له ۱۹۲۹م. څخه یعنې د نادرخان له کښېناستلو سره پیل او تر ۱۹۳۳م. یعنې د هغه تر وژل کېدو پورې.

**دویم**– د تکتیک په لړ بدلون سره د مطلقیت استبداد دوام: د نادرشاه له وژل کېدو (۱۹۳۳م.) څخه پیل او د دوهمې نړېوالې جګړې (۱۹۴۰م) پورې یې دوام وکړ.

**دریم**– د ستراتیژۍ د بدلون د پیل پړاو: د دوهمې نړېوالې جګړې (۱۹۴۲م.) له پای ته رسېدلو څخه وروسته تر ۱۹۵۳م. کال پورې.

د پاچاهۍ له اعلانولو څخه وروسته نادرشاه، خپله مرامنامه په لسټونو کې په لاندې توګه په افغانستان کې خپره کړه:

## لومړی

او سنی دولت د اسلام د سپېڅلي دین له حکم سره سم او د حنفي مذهب د اخلاقو مطابق د هېواد چارې پر مخ بیایي. ددې لپاره، چې محمدي غرا شریعت په هېوادنیو چارو حاکم او دایم قایم وي د عدلیې د وزارت د ملي شورا ریاست مسؤلیت لري. د احتساب څانګه ددغه حکومت یوه لازمي څانګه ده او دغه څانګه به په یو منظم شکل جوړه او کار به کوي. د افغانستان خلک د دین له احکامو سره سم، پرته د قومیت او نژاد په پام کې نیولو څخه یو بل سره وروڼه او له حقوقي پلوه یو بل سره برابر دي. د محمد صلی الله علیه وآله وسلم شریعت او د دین له حکم سره سم حجاب په افغانستان کې په پام کې نیول کېږي.

## دویم

د شراب څښلو منع. د شرابو څښلو ته د محمدي (صلی الله علیه وآله وسلم) شریعت سره سم سزا ورکول کېږي. په ټول افغانستان کې د شرابو پټ یا ښکاره پلورل منع دي. خلکو ته د شرابو د جوړولو اجازه

Scanned by CamScanner

نشته، په هغه کور کې چې شراب جوړ شي يا کومه هټۍ کې وپلورل شي او د حکومت د څېړنې په پايله کې ثبوت شي، ضبط کېږي او پلورونکي او جوړوونکي ته شرعي سزا ورکول کېږي، که ثابته شوه، چې د حکومت مامور شراب څښي، برسيره پر شرعي سزا، له ماموريت څخه هم لرې کېږي. بهرنيان مستثنی دي.

په **دريم** توک کې د اردو د سمبالښت او د حربيې د ښوونځي بيا پرانيستل او په **څلورم** توک کې لکه د امانيه دورې په شان له بهرنيو هېوادونو سره د اړيکو د ساتلو په هکله خبرې شوې وې او د تيليفون، تيلګراف، ډاك او لارو جوړولو په هکله پکې خبرې شوې وې. په شپږم توک کې د امانيه دورې د مالياتو او ګمرکاتو په شان خبرې وې، په **اوم** توک کې له بهرنيو هېوادونو د سوداګريزو سره اړيکو د ټينګولو او دکانونو د را ايستلو او په نويو وسايلو سره د اوبو لګولو د سيستم او په تېره بيا د وسپنې د پټرۍ د غځولو په هکله ژمنه کړې وه، **اتم** توک د علم او فن (معارف) مسئله د ملي جرګې جوړېدو ته پرېښې وه. په **نهم** توک کې د شورا (جرګې) جوړېدل او په **لسم** توک کې د صدراعظم د ټاکلو او د کابينې د جوړولو په هکله خبرې شوې وې. (و.ك. کابل کالنۍ لومړنۍ ګڼه: د کابل چاپ ۱۳۱۱ل. کال ۲-۴ مخونه)

دغه ليکل شوې مرامنامه، چې په رسمي بڼه خپره شوې وه، د يوې ارتجاعي ځانګړتيا لرونکې او له رياکارۍ څخه ډکه او د دوکې او دروغو د بنې لرونکې وه، خو د دولت عملي مرام تر دې هم ارتجاعي او له اختناق څخه ډك و. د ببلګې په توګه پاچا د ګلخانې په ماڼۍ کې په يوه لويه غونډه کې د دولت د کورني سياست په هکله وويل او اخطار يې ورکړ، چې: "اوسنی حکومت به پر نږدي، چې لکه د امان الله خان د دورې په شان هر څوك په سياست کې خبرې وکړي." په بله ورځ پاچا له ګڼ شمېر درباريانو سره د مازيګرنۍ تفريح لپاره د ارګ له دروازې څخه ووت. کله چې د امير عبدالرحمن خان د قبر سرك ته ورسېد، هلته ودرېد او د هغه وينه بهوونکي پاچا ارواح ته يې دعا وکړه، بيا يې ډلې ته مخ راواړاو ويې ويل: "د افغانستان په ټولو پاچايانو کې هغه چا، چې د افغانستان خلك يې ښه پېژندلي وو او ښه يې اداره کړل. همدا پاچا (د امير قبر ته يې ګوته ونيوله) و." پرته له شك څخه، چې ټول په دې باندې وپوهېدل، چې د نادرشاه چلند به راتلونکې د افغانستان له ملت سره څومره ويروونکی وي. بايد وويل شي. چې نادرشاه په خپله دغه عقيده کې امير عبدالرحمن خان ته يې لرله او له هغه څخه يې پيروي او هغه ته وفاداري يې ثابته کړه او آن دا، چې د همدې ډول چلند په لاره کې يو خپل سر هم له لاسه ورکړ.

د ماهيت له پلوه نادري دولت يو فيوډالي رژيم و، چې په اريستو کراسي، او ليګارشي او د مذهب په نقاب کې ډېره لګولې وه. ددغه کالبوت سياسي روح هغه له پولې وتلې ويره وه، چې ماکياول هغې ته (د نوي استبداد) د فلسفې د بنسټ) نوم ورکړی و. دغه مطلقيت (آبسالوتيزم) دومره ويرونکی و، چې د سلطنت د الهي حق فرضيه باندې يې عقيده لرله او داسې يې ښودله، چې په همدې عقيده روان دي، نور نو بله هېڅ کومه مبدا يا داسې مقدسات نه پېژني، چې هغو ته پابند وي، نه يې اخلاق او نه يې هم کوم سياسي اخلاق پېژندل.

Scanned by CamScanner

په دې ډول یوه رژیم کې طبعاً، چې د واکمن شخصیت یا واکمنان، چې د واك په سر کې سیاسي قدرت لري، په ټولنه ژوره اغېزه لري دا ځکه، چې د مسئولیت کوم زنځیر د دوی د هیلو احساساتو او غوښتنو د مخنیوي لپاره نه و. په دې توګه د ټولنې برخلیك د دغې ډلې د غوښتنو او هوسونو په ګرداو کې ډوب و. دغه واکمنه شوې کورنۍ پخوا په یوه بل هېواد کې زېږېدلې او روزل شوې وه او خپله لومړنۍ تربیه یې هلته ترلاسه کړې وه، چې هغه چاپیریال او هغې روزنې د دوی په شخصیت ژوره اغېزه کړې وه... له بلې خوا هېواد سره مینه، چې یوه طبیعي لېوالتیا او الفت دی، یواځې د ګډو ګټو لرونکو خلکو، د یوې عقیدې او وینې لرونکو خلکو تر منځ شریکه وي. نه په کوم پردي او توپیر لرونکي چاپیریال کې، چې هغه چاپیریال د ګډو ګټو خویونو او عقیدو سره توپیر ولري. په دې توګه په دغه ډول شرایطو کې، چې د نادرشاه کورنۍ وه. دوی د حب وطن پر ځای د (حب خانواده) لرونکي وو، چې په خپل عالي شکل کې په (حب قبیله) پای ته رسېده. حال دا، چې (حب وطن) په یوه ډېره پراخه کړۍ کې د وګړو د ښوونې او روزنې او د ګټو د ګډون او یو والي څخه رامنځته کېږي. د کورنۍ پالنې دغه احساس، چې یو بدوي حالت دی، پرته د کورنۍ له ګټو بله موخه نه لري. دغه ګټې یا له شتمنۍ سره د مینې په بڼه یا هم له جاه او له دریغ سره د مینې په بڼه را څرګندېږي، چې په ځانګړي ژوند کې د ځان پالنې او له خلکو څخه د کرکې لامل کېږي، چې دا په خپله یو نا طبیعي حالت دی او په دې حالت کې د غالي او اوچتو غوښتونکو لکه نیکي پالنه، نورو ته خدمت او حقیقت پالنه، ښکلا خوښونه او نورو لپاره ځای پکې نه پاتې کېږي دا، ځکه چې د دوی په نظر نیکي (له خپل ځان سره نیکي کول) دي او حقیقت (منفعت) یا ګټې دي. ښکلا هم دوی ته شتمني ده آن موسیقي د دوی لپاره فقط یو د نه پوهېدو وړ شور ماشور دی، شعر او انځور هم که پیسې ور په لاس نه کړي، بې ګټې بولي او همداسې هم علم او حقیقت پالنه...

کله، چې کورنۍ پالنه له میراثي هیلو او عادتونو سره په یوه فطري استعداد سره تر عمل لاندې ونیول شوه، نو یو شدید شهوت یې رامنځته او د نورو غوښتنو او هیلو توازن یې له منځه یوړ.

په هر حال، د کورنۍ پالنې دغه روحي ځانګړتیا د شدت او افراط په شکل یو ډېر بد حالت پیدا کوي. ددې پایله دا ده، چې عزت نفس په تکبر بدلېږي، عدل په ظلم او زور بدلېږي. څومره، چې په نورو باندې ظلم کول ډېرېږي، هومره د ظالم په زړه کې د مظلومانو او اړو خلکو په وړاندې کینه نوره هم زیاتېږي په ظلم او تیري باندې لاس پورې کول او بیا د هغو تکرار کول د ظالم د عادت لامل کېږي، نو په دې توګه ظالم همداسې ظالم پاتې کېږي او آن دا، چې نور یې هم ظلم زیاتېږي او کله به هم عادل نشي. دا ځکه چې عادت د درك کولو قدرت (وجدان) له منځه وړي او احساس پای ته رسوي. عادت هم لکه د غریزې په شان ارادې ته اړتیا لري، بلکې عادت له ارادې څخه یو څه کموي هم. د کورنۍ پالنې د احساس زیاتېدل، چې د چاودنې تر برید پورې ورسېږي، نو دغه ډول احساس لرونکی شخص د ټولنې په وړاندې د میرې (مادر اندر) شکل غوره کوي، چې خپل اولاد (کورنۍ) د بنزې (ټولنې او وګړو) په پرتله اوچت بولي. دغه ډول خلك د خپلې ذغې غریزې د پوره کولو په خاطر ډېر سپك وسایل (لکه ظلم، دوکه، دروغ، دسیسه او نور) کاروي. دغه د کورنۍ پالنې ځانګړتیا نسل په نسل زیاتېږي، په تېره بیا کله چې

ودونه او د کورنیو جوړول په خپلو منځو کې وي او له نورو نسلونو سره خپلوي، څخه ډډه وکړي. د نادرشاه کورنۍ د همدغې روحیې په لرلو سره وروسته تر دیرش کاله انتظار او هوس څخه د افغانستان په میلیونونو وګړو د واکمنۍ چارې ترلاسه او د خلکو برخلیک یې خپل واک کې کړ. ده ددغې موخې د ترلاسه کولو لپاره له هر ډول وسایلو څخه کار واخیست او د هغې د ساتلو لپاره یې هم له هر ډول ناوړه علونو کار واخیست. د انګلیس د دولت سیاست هم د واکمنو د کورنیو د ګټو د ساتنې دغه دریغ څخه په خپله ګټه او د افغانستان د خلکو د مادي او معنوي ګټو په پوره زیان کار واخیست. لکه په عمل کې، چې ولیدل شول. ددغه رژیم اصلي پروګرام په دې توګه و: وروسته پاتې حالت کې د هېواد ساتل او د منځنیو پېړیو د حالت راوتل، د ملي معارف د پرمختیا مخنیوی، د ملي مقاومت او استبداد په وړاندې د خلکو د روحیاتو وژل، د انګرېزانو نفوذ ته لار هوارول او د ملت د تضعیف لپاره د کورنیو ژبنیو، مذهبي، نژادي سیمه ییزو او قبیلوي بې اتفاقیو رامنځته کول. ددغه دولت ددغه سیاست تطبیق کول په لاندې ټکیو ولاړ و: د جاسوسۍ په پراخولو سره د ملت ویرول، زندان او زولنې، کړاو او اعدام. دوکه او فریب، د درواغجن ریفورم ښودنه او اسلامي شریعت باندې تظاهر. ددغه سیاست د تطبیق کولو د پیاوړتیا په خاطر یې یوه اردو، چې د پاچا د کورنۍ او د یو شمېر پیرودل شویو افسرانو څخه جوړه شوې وه اداره کېدله. ددغه سیاست تبلیغ کوونکي یو شمېر ملایان او څېره خواره لیکوالان وو، چې په منبر او ورځپاڼو کې به یې د موعظې او خطابې په ترڅ کې په دروغو سره زهر د قند تر پوښ لاندې خلکو ته ورکول. له دې څخه وروسته د افغانستان حکومت په یوه میراثي نظامي حکومت بدل شو، چې د جزا کوم قانون یې نه درلود او محکمه او محاکمه پکې نه پېژندل کېده. له دې ټولو سره سره د هېواد اداره په یوه استعماري اداره باندې اوښتې وه، چې د نړۍ د استعماري ادارو تر ټولو ټیټه اداره وه. د بېلګې په توګه د انګلیس دولت یو پردی هېواد هندوستان تر ښکېلاک او ځبېښناک لاندې راوستی و. خو د افغانستان واکمنې کورنۍ خپل ملت او خپل خلک تر ښکېلاک او ځبېښناک لاندې راوستي وو. نادرشاه ډېر ژر په دې باندې پوه شو، چې خلکو دغه دولت د دوی په پخواني دښمن یعنې انګرېز پورې تړلی بللی دی او د انګرېز پالنې په تندي باندې ورته لګولې ده، نو ناممکنه ده، چې دغه واکداران به وکولای شي، چې ځانونه د خلکو په ذهن کې د یو ملي دولت په توګه ور وپېژني. دا یواځې نه، بلکې د نادرشاه کورنۍ په دې هم پوهېدله، چې د افغانستان ملت په دغه ډول احساس لرلو سره. که د دولت په ضد سره یو موټی شي، د دولت کار پای ته رسولای شي او په نړۍ کې به هېڅ ځواک د هغوی مخه ونشي نیولای. لکه هغسې، چې د شاه شجاع د حکومت او د انګرېزانو نیولای، نوځکه د نادر شاه د کورنۍ دولت د ملت د یووالي د مخنیوي په خاطر د ژبې، مذهب نژاد او سیمې په نومونو اختلافات وپارول. له بلې خوا یې دهېواد د بېلا بېلو سیمو تر منځ د بې اتفاقۍ اچولو په موخه د تبعیض سیاست غوره کړ او په کاپیسا، پروان، قطغن او بلخ کې یې د داخلي اغتشاشاتو په ترڅ کې په قصدي توګه پښتانه، دري ژبې او ترکي ژبې او ترکي ژبې یو بل سره واچول او د پکتیا په اړ و دوړ کې یې دري ژبې او هزاره د پښتنو په ضد سوق کړل. همدارنګه د نادرشاه حکومت په دې باندې پوهېد، چې د ملي

Scanned by CamScanner

معارف پرمختیا د مستبد او استعماري سیاست سره د تړلي دولت لوړه درجه دښمن دی، نو ځکه یې د هغه رنګول خپله لومړنۍ دنده وبلله او ددغې شومې دندې په ترسره کولو کې یې وخت له لاسه ورنه کړ. د اقتصاد مسئله او د ملت اړوالي یوه بله موضوع وه، چې د حکومت پام ورته اوښتی و. د افغانستان واکمنان په دې باندې پوهېدل او په هندوستان کې یې په عملي توګه تجربه کړې وه، چې په بېوزلو خلکو باندې په خپله خوښه باندې حکومت چلول آسانه دي، خو په هوسا او بډایو خلکو باندې د خپلې خوښې حکومت چلول ستونزمن او ناشونې دي، نو ځکه یې د دلالي تجارت او انحصاري اقتصاد له لارې او د خریدارۍ احوالو او استبدادي ادارې په واسطه د خلکو د وینو او بزګرانو او شپنو د خوارو د محصول ترلاسه کولو په طریقه هېواد د فقر، اختیاج او بېوزلۍ په حالت کې وساته. سره له دې، چې د نظامي او اردو چارو واك له دولت سره و خو بیا یې هم له دوکې څخه کار اخیست د افغانستان د دیندارو او خلکو د دوکه کولو په خاطر یې یوه شیبه هم د شریعت غوښتنې درواغجن نقاب له مخې نه لرې کاوه. البته ددغه نوي حکومت دغه پروګرام د انګلیس د دولت له غوښتنو سره برابر و. په تېره بیا دا، چې د نادرشاه کورنۍ له کوچنیوالي څخه په دې عقیده روزل شوي وو، چې په ټوله نړۍ کې له آسیا نیولې تر افریقا، امریکا او آن اروپاپورې پرته د انګلیسانو له ارادې څخه یو تار هم نشي غوځېدای. د همدې عقیدې له مخې نادرشاه د افغانستان د شاهي ګارد خولۍ لکه د انګلستان د شاهي ګارد د خولیو په شان جوړې کړې، چې د افغانستان د روڼ اندو کرکه یې راوړپاروله. آن دا، چې په ۱۹۲۰م. کال کې د برلین په یوه جریده کې هم دغه موضوع راغلې وه. البته د انګلیس دولت هم په خپل دغه پلوي دولت باندې لوبې کولې او تل یې هغه تر ګواښ لاندې ساتلی و، تر څو په هره برخه کې د افغانستان دولت لا زیات د انګلیسانو په ګټه حرکت وکړي.

Scanned by CamScanner

# پینځم
# د حکومت تشکیل او مرام

کله، چې دلته د (حکومت) نوم اخیستل کېږي، باید داسې فکر ونشي، چې هغه مهال په افغانستان کې په رښتیا هم (یو حکومت) د هغه په رښتیني معنا سره موجود و، دا ځکه چې د نادرشاه له پاچا کېدو (۱۹۲۹م) څخه تر ۱۹۷۳ پورې د ۳۳ کالو په دوره کې افغانستان د یوه رښتیني حکومت لرونکی نه و. په دغه موده کې یوائې شاهي کورنۍ هم سلطنت او هم حکومت چلاوه. د ۱۹۲۹م. د اکتوبر په ۱۲مه (د ۱۳۰۸ل. کال د تلې په ۲۳مه) نادرشاه خپل سلطنت اعلان کړ. له دې څخه یوه میاشت وروسته یعنې د ۱۹۲۹م. کال د نوامبر په پینځلسمه (د ۱۳۰۸ل. کال د لړم په ۲۳مه) د پاچا د ورور محمد هاشم خان کابینه بشپړه شوه او تر ۱۹۴۲م. پورې (۱۷ کاله) یې دوام وکړ. دغه حکومت اجرائیه، قضائیه او مقننه قواوو، اردو مامورینو او افسرانو ته د هېواد د مهمو چارو په سپارلو کې لاندې ټکي په پام کې نیول: لومړی خو باید کورني او بهرنۍ اداره د شاهي کورنۍ په لاس کې وي، دوهم باید محمدزیو له ګوتو په شمار غړو څخه غوره شي، دریم دا، چې باید د هېواد په حیاتي چارو کې ځانګړي هندوستانیان د دولت باور وړ وپېژندل شي. څلورم دا، چې لوی ځمکوال باید هېواد په نظامي او ملکي چارو کې برخمن شي. پینځم باید یو لړ شمېر ملا ډوله خلك هم باید لکه د ځمکوالو په شان د دولت د اداري په لیکو کې ونیول شي، پاتې تش ځایونه که پاتې و هغه دې د ټولنې د نورو کسانو(***د ۷۹ مخ اخري کرښه ورانه شوې***) (محمدهاشم خان) حربیه وزیر باید د پاچا بل ورور (شاه محمود خان) و، چې وروسته بیا په خپله صدراعظم شو. د پاچا وکالت د هغه بل ورور (شاه ولیخان) په غاړه و، چې وروسته بیا په لندن او پاریس کې د افغانستان سفیر شو. د دربار وزیر د پاچا د تره زوی (احمدشاه خان) د پاچا اوښی (محمداکبرخان) د طبیه خپلواك رئیس و، چې تقریباً یو بیسواده سړی و، چې وروسته بیا په روم کې د افغانستان سفیر شو. د پاچا بل ورور (محمد عزیز خان) په مسکو کې سفیر شو او وروسته بیا په برلین کې افغاني مختار وزیر شو. د پاچا د تره دوه نور زامن احمدعلیخان او علیشاه خان یو یې په پاریس کې او بل یې په لندن کې د افغانستان سفیران شول یو یې بیا د دربار وزیر او بل یې د حربیه ښوونځي قوماندان او وروسته د کندهار افسر او بیا د پکتیا والي. د پاچا خوریی اسدالله خان په نولس کلنۍ کې د شاهي ګارد جنرال او بیا وزیر او وروسته سفیر ش. د پاچا وریرونه (محمد نعیم خان او محمد داود خان) یو یې په اتلس کلنۍ د افغانستان د بهرنیو چارو سیاسي عمومي مدیر او بیا د ایتالیا پلازمینه کې مختار وزیر شو، چې د نړۍ د دیپلوماسۍ په تاریخ کې تر ټولو کم عمره سفیر و، وروسته هغه د معارف وزیر، بیا د فواید عامې وزیر او وروسته د صدارت لومړی مرستیال شو. بل ورور یې محمد

داود خان د ننګرهار د پوځ قوماندان، بیا ملکي والي او بیا د کندهار او فراه ولایتونو نظامي قوماندان شو وروسته د پلازمینې د قول اردو قوماندان، بیا حربیه وزیر او بیا د کورنیو چارو وزیر او وروسته د افغانستان صدراعظم شو. دا هم باید په پام کې ونیول شي، چې دغه لوی دولتي مراتب د اوږدې مودې لپاره یوازې د مړینې یا هم ځینې وخت د ډېر بوډاتوب له لامله له دندې لرې شول. د بېلګې په توګه محمدهاشم خان تقریباً ۱۷ کاله د هېواد صدارعظم و، شاه محمود خان ۲۳ کاله د حربیې وزیر او صدراعظم و. محمدداود خان هم ۳۴ کاله نظامي قوماندان، وزیر او بیا د افغانستان صدراعظم و. همدا رنګه د هغه ورور. د ورونو حکومت د ۳۵ کالو په ترڅ کې په بشپړ ډول یو نظامي حکومت و. مارشالا په ډېر زور او ظلم، ویرې او بربریت باندې د افغانستان په خلکو باندې تطبیق شوه. د یوې پېړۍ د نیمه برخه وخت کې دغه امتیازات او مطلق العناني ددغې حکمرانې کورنۍ په برخه وو او وروسته تر هغې د میراث په توګه ددغې کورنۍ نارینه وو اولادونو ته ورپاتې شو. د اصلاح جریدې د ۱۳۱۰ل. کال د سرطان د میاشتې په ۹۱مه ګڼه کې په خپل لومړي مخ کې تر لاندې عنوان لاندې "ایا ستر خلك په بیوزلو کورنیو کې زېږي او که بډایو کورنیو کې؟" داسې ولیکل:

"واقعي (!) حقیقت، چې له احصائیو څخه ثبوت شوی دی دادی، چې شتمن او بډای د خپل تعقل او خلقت له مخې د بیوزلو په پرتله ذکي او پیاوړي دي. د بېلګې په توګه د بېلا بېلو وګړو په هکله تجربې دا وښوده، چې باید دغه حقیق داسې وګڼل شي، چې هر څوك ورباندې بشپړه عقیده ولري، دا ځکه چې په بیوزلو باندې د فقیرو خلکو نه بری موندل په خپله د دوی د عجز او ناتوانۍ څرګندویه ده او د شتمنو خلکو پرمختګ په خپله د دوی د کفایت ښودنه کوي..." ددغې جریدې مدیر یو تن په نوم د مولوي محمدامین خوږیانی وو، چې وروسته بیا د افغانستان د عدلیې وزارت مرستیال شو. پورتنۍ مقاله په ډېر ښه ډول څرګندوي، چې فرهنګ په څه ډول سره د حاکمه طبقې په چوپړ کې او د هغوی د استازي یعني د واکمن دولت په لاس په کار ځي.

باید وویل شي، چې د بشري ټولنې تاریخ څرګندوي، چې دا یو واقعیت دی، چې لوی نابغه او متفکرین. مخترعین او اوچت هنرمندان او دبشریت د تاریه مبارزین زیاتره په بیوزلو او منځنیو طبقاتو کې راټوکېدلي دي نه په شتمنو او بډایو طبقاتو کې. همدا رنګه د محمدزیو قوم، چې ټول اووه زره تنه کېدل او د هېواد د ټول پېنځلس میلیونه وګړو په انډول ډېر لږ خلك وو (په زرو کې دوه تنه) له هغوی د هېواد د ادارو په سر کې ټاکل کېدل. غلام فاروق خان عثمان یې د ننګرهار والي، بیا د هرات، بیا د کندهار او په پای کې د کورنیو چارو وزیر شو. فیض محمد خان زکریا د بهرنیو چارو وزیر او بیا په ترکیه کې سفیر او وروسته د معارف وزیر شو، محمدعمرخان د کابلستان والي، محمد قاسم خان د ننګرهار والي او بیا په روم کې سفیر، محمد عتیق خان د کرنې وزیر، نجیب الله خان د معارف وزیر او بیا په هند کې افغاني لوی سفیر، بیا په شمالي امریکا کې افغاني سفیر شو. عبدالرزاق د میمنې اعلی حاکم او بیا د فراه اعلی حاکم او په پای کې د پاچا ندیم او مصاحب پاتې شو. سردار عبدالحسین عزیز په روم او مسکو کې سفیر او بیا د معارف او فواید عامې وزیر او داسې نور. سلطان احمد خان په ترکیه

او مسکو کې سفیر او بیا د بهرنیو چارو وزیر. غلام احمد خان اعتمادي په تهران کې سفیر شیر احمد خان په تهران کې سفیر، عبدالرسول خان په ډیلي کې افغاني جنرل قسونل، او محمد صدیق خان په مشهد کې افغاني جنرل قونسل او یارمحمد خان په تاشکند کې جنرل قونسل ټاکل شوي وو، په ترتیب سره ښاغلي محمد یحیی خان، محمد عثمان خان او حبیب الله په ترتیب سره د افغانستان د بهرنیو چارو لومړی او هم دویم معینان دواړو وروسته بیا سفیران شول. البته دلته د هغو محمدزیو نومونه نه دي راغلي، چې په دوهمه مرتبه کې وو او وروسته بیا لومړیو او لوړو مراتبو ته ورسېدل. دلته موخه داده، چې دوی په افغانستان کې برسیره پر دې، چې د پانګې او شتمني خاوندان وو، د هغو امتیازاتو او دریځونو لرونکي هم شول، چې یوائې انګرېزانو په مستعمره هندوستان کې لرل. له دې څخه وروسته اکثریت محمدزي له اقتصادي او سیاسي پلوه افغانستان د ټولني لوړ قشر وګرځېد.

دوست محمد خان ایماق نامتو هراتي سوداګر څکه بندي کړی شو، چې غوښتل یې د محمد اکبرخان محمدزي له لور سره واده وکړي. محمدصابر خان موسیقیدان هم د همداسې دلیل له مخې په کوتکونو ووهل شو او څو کاله بندي شو. دا ځکه چې هغه د سردار عبدالحمید خان له لور سره واده کړی و.

حکومت داسې هڅې کولې، چې د (سردار) کلمه یوائې د محمدزیو لپاره کټ مټ هماغه اغېزه ولري لکه د هند د خلکو په ذهن کې، چې کارك خولیو راپیدا کړې وه، حال دا، چې مخکې تر دې د افغانستان په ملت کې دومره کرکه، کینه او دښمني د پردي او کبر په مقابل کې نه و، بلکې محمدزي او نور خلك تل پرته له کوم ذهني توپیر څخه سره یو ځای اوسېدلي وو او یو بل سره یې خپښي کوله. په دې کې د حکومت ډېر غلو د تبعیض لامل شوه، چې ټول محمدزي یې د لوړ کټلو ټغر کې راونغاړل که نه به محمدزیو کې بې ضرره، وطنپال او ښه خلك هم وو او اوس هم شته، خو د حکومت دغه تبعیض به ممکن د راتلونکي لپاره ښه نه وي. خو حکومت ددې خبرې پروا نه ساتله، سمدستي دغه حکومت هغه څه کول، چې هغه د افغانستان ټولني کې احساس کول. یعني خپله نوي راغلې کورنۍ یې په هېواد کې یواځې او ګوښه احساسوله. دوی ګوند نشوجوړولای او ځانته یې ملاتړي نشو پیدا کولای، وروسته یې بیا ددغه ګوند د جوړولو ته پراختیا ورکړه. په پیل کې یې ځان د پکتیا د خانانو په جامه کې پټ کړ او د دراني له نوم څخه یې ګټه پورته کړه، ورپسې یې ریښتنو، دري ژبو او ترکي ژبو تر منځ د بېلتون کرښه راکښله، پرته له دې، چې د هغه ستر ګواښ او خطر ته پام ونیسي، چې هېواد د تجزیې او نیستۍ خوا ته بیایي.

په حکومت کې د هندوستانیانو دریځونه (موخه هغه یو شمېر ځانګړي هندوستانیان دي، چې د هند انګلیسي دولت پورې تړلي وو)

د امیر شیرعلي خان د سلطنت له مهال څخه وروسته د لومړي ځل لپاره یو هندوستاني (الله نواز خان ملتاني) د ژباړونکي په توګه او بیا د سلطنتي دربار د وزیر په توګه او وروسته بیا د نادرشاه د لومړي یاور په توګه او بیا ورپسې د فواید عامې د وزیر په توګه مقرر شو، چې ورپسې په جرمني کې د افغانستان مختار وزیر شو. ده له شاهي خاندان څخه ځانته یوه ښځه وکړه او یوه ښځه یې هم خپل زوی

ته واده کړه. هر څل به، چې هغه د اورپا له تفريح څخه بېرته راته، د پلازمينې د ټولو ملکي او نظامي لوړ رتبه د چارواکيو په ګډون به د هغه د ښه راغلاست لپاره د دلګشاه په شاهي، ماڼۍ کې يوه غونډه جوړېده (د دغه سړي د ژوند او کورنۍ په هکله د همدې کتاب لومړي ټوك کې معلومات راغلي وو.) همدا رنګه لومړی څل و، چې د افغانستان خلکو او اردو په خپلو سترګو وليدل، چې يو هندوستاني ګاډيوان (قربان حسين پنجابي) چې امانيه دوره کې کابل ته راغلی و او د جرمني افغان واګنر د شرکت ډريور و او بيا وروسته د کابل د ګمرك دزدبګير شو، اوس د نظامي يونيفورم کې، چې د نايب سالارۍ غلامي يې لرلې له سپه سالار څخه وروسته په دوهم دريځ کې په هېواد کې د لوړې عسکري رتبې خاوند و.

دغه سړی، چې نوی راڅرګند شو، نو د افغانستان د يواځينۍ حربي فابريکې رئيس او د هېواد د وسله توازنو رئيس او د کابل د بوټ جوړولو او د فابريکې، رئيس شو. ډېر ژر يو لوی سوداګر او غټ ميليونر هم شو. هغه د افغانستان د وسلې جوړولو فابريکه بشپړه له منځه يووړه او د کارګرانو شمېر يې له څلورو زرو څخه شپږ سوه تنو ته راټيټ کړ. د دغه سړي کور د کابل، قبايلو او شا و خوا خلکو د تګ راتګ ځای و، چې د هرې پيشې او حرفې کسان ورته راتلل. هره شپه به له پينځو سو کسانو زياتو ده په دسترخان خوراکونه کول او په ميز باندې به يې سل دانې هندي ام ايښي وو، چې هر يو يې پينځه افغانۍ بيه لرله. په خپله يې د ورځې پينځه قوطۍ سګرټ لګول. په کار کې ډېر تکړه و، لمونځ يې کاوه، قمار يې بايلود او د سوداګرۍ او سياست چارې يې ښې چلولې. د قمار په لوبو کې يې يو اشراف زاده ته، چې زره يې ورباندې بايللی و، د خپلې لوبې د شريك په توګه شل زره افغانۍ ورکولې او د هغې يواځې کتلو ده ته کفايت کاوه. د پلازمينې او شا و خوا خانانو او لويو کورنيو ورسره اړيکې لرلې. د دې سړي څواك دومره بريد پورې ورسيد، چې د پکتيا د تنظيميه رئيس په توګه وټاکل شو. په هغه وخت کې د افغانستان د يوه وزير مياشتنۍ معاش زر افغانۍ و د اړتيا وړ توکيو بيه يو څه ارزانه وه، د بېلګې په توګه يو من اوړه درې افغانۍ، يو من غوښه اووه افغانۍ. يو من غوړي ۲۱ افغانۍ او يو من وريجې شپږ افغانۍ وې، يو ډاله په ۱۲ افغانيو بدليدو يو سترلنګ پوند په ۴۰ افغانۍ او درې سوه کالدارې ۳۳۰ افغانۍ کېدې. په دې ډول بيو کې د شاه جي يواځې د پخلنځي لګښت په مياشت کې شپيته زره افغانۍ و. جنرال سيد حسين خان کنړی فرقه مشر د، چې د ننګرهار د اړ و دوړ پر مهال يې محمدنادرخان ته ډېر خدمتونه وکړل، يواځې په همدې تور، چې يوه ورځ يې په کومه غونډه د شاه جي نوم د (قربان حسين ګاډيوان) په بڼه په سپکاوي سره اخيستی و، د دهمزنګ په زندان کې واچول شو او بيا هماله له منځه يووړل شو. په پای کې بهرنيو پورې د تړلي دغه هندي دريځ دومره اوچت شو د افغانستان رسمي ورځپاڼې اصلاح د ۱۳۰۹ل. کال د ليندۍ په ۳۲ ګڼه کې په پينځم مخ کې د نښان د ورکړي تر سرليك لاندې وليکل: "د هېواد د خپلواکۍ د ګټونکو د هغو غوره خدمتونو له لامله، چې ترسره کړي يې وو، د حربي فابريکې د رئيس شاه جي صاحب له حضور څخه هغو ټولو ته د خدمت يو يونښان ورکړل شو". د افغانستان د يوې رسمي ورځپاڼې دغه ليکنه څرګندوي، چې شاه جي د

Scanned by CamScanner

افغانستان په کورنیو چارو کې ځینې وختونه د پاچا یا یوه جمهور رئیس ځانګړې دندې هم ترسره کولې، دا ځکه چې د نښان او مډال ورکړه په افغانستان کې د دولت د مشرانو یو ځانګړی حق و.

له دې څخه وروسته په افغانستان کې د هندوستانیانو د واك مرکز د شاه جي او الله نواز کورونه وو. په افغانستان کې هر هندوستاني د افغانستان تر هر وزیر څخه بډای، مصئون او خواکمن و، د بېلګې په توګه د صدراعظم په وړاندې د ډاکټر نورمحمد دریغ تر بل هر وزیر څخه اوچت و او د حربیې د وزیر په وړاندې د ډاکټر قریشي درنښت تر هر بل افغاني وزیر څخه اوچت و. همداسې هم د افغانستان د معارف د پروګرامونو په بدلون او له منځه وړلو کې د مولوي جمال الدین، چې یواځې یو ښوونکی و، واك د معارف د وزیر علی محمدخان تر واك څخه لا اغېزمن او زیات و. علی محمدخان په خپلو کورنیو ناستو او غونډو کې جمال الدین او نورو هندي ښوونکو ته په خپله په میز باندې ډوډۍ اېښودله کله، چې دوست له ټول افغانستان څخه یواځې ۱۹ تنه زده کوونکي بهر ته استول، څو تنه یې لکه همایون خان او اورنګزېب خان او نور هغه هندوستانیان وو، چې لا تر اوسه پورې یې افغانستان ښځي لیدلي نه وو، مخامخ له هندوستان څخه د افغانستان په پیسو په لندن کې پرتحصیل بوخت شول. د لندن د سفارت مشاور ذوالفقار خان د صدراعظم لومړی مشاور او بیا وروسته د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال او وریسې په جاپان کې د افغانستان مختار وزیر شو. هېڅ داسې یوه همه اداره نه وه، چې په هغې کې خامخا یو هندوستاني په یوه نوم نه په یوه نوم لکه ژباړونکی، ښوونکی، طبیب یا بل نوم باندې مقرر نه و. آن له مور څخه د دغه مهربانو میروګانو ونډه دافغانستان په کورنیو چارو کې دې برید ته ورسېد له، چې ډاکتر عبدالمجید هندوستاني دې ته حاضر شو، چې د مزار شریف په روغتون وړیا او پرته له معاش څخه دنده ترسره کړي (و.ك. د اصلاح ورځپاڼې د ۱۳۰۹ل کال د غویي ۴۲ ګڼه). البته افغاني شویو هندیانو، د اصلي هندیانو په پرتله دوهمه درجه دریځ درلود لکه د افغانستان د ادبي ټولنې مشراحمدعلي خان دراني، د څارویو روزنې رییس محمدیوسف او نورو. دوی په خپله د افغانستان د خلکو په پرتله دولت ته هم ډېر د باور وړ وو.

هندوستانیانو ته دغه ډېره غوره او برابره فضا ددې لامل شوه، چې دا ډول ډېر زیات میلمانه افغانستان ته راشي او د دولت له خوا به ورته تود هر کلی ویل کېده لکه شاعر، سیاستوال، سوداګر، ملا او په داسې نورو نومونو به راتلل. د بېلګې په توګه د شاه جي پلار پرته له ویزې څخه په تورخم کې له افغاني پولو څخه راته او بېرته ته او افغاني پوله ساتونکی اړو، چې د هغه خدمت وکړي، یا د حکیم جان او رستم جي سوداګري په کابل کې د ټول هېواد دلالي د سوداګري مرکز و. د هندوستان ښې لاسو ورځپاڼو لیکونکو لکه سید حبیب د سیاست مدیر او داسې نور به هم کله کله د کابل په هوس او تفریح دې خوا ته راتلل او تود هر کلی به ورته ویل کېده. د دربار په ځانګړو کړیو کې اردو ژبه (د دربار ژبه) بلل شوې وه اندا، چې (تردید شایعات باطلهٔ شاه مخلوع) او (د افغانستان د ۱۳۰۹ل کال د لویې جرګې پېنځمه ګڼه پرېکړه لیك هم په دري او هندي اردو ژبو باندې په ګډه ډول د کابل په دولتي مطبعه کې په ۱۳۱۰ کال کې چاپ او خپرې شوې

نور نو د کابل په حکومتي ادارو کې هندوستانیانو د هغو انګرېزانو دریځ درلود، چې په هند کې واکمن وو. خو دغه امتیاز یوازې د هغو هندوستانیانو په برخه و، چې په پټه یا په ښکاره د هندوستاني انګلیسي حکومت سره تړاو درلود، حال دا، چې د هندوستان د خلکو ریښتیني استازي یعنې انقلابیون او خپلواکي غوښتونکي د افغانستان په پولو کې ځای نه درلود او که به راغلل تعقیب یا به بندي کېدل او بېرته به له ډیورنډ کرښې هاخوا ته شړل کېدل، د بېلګې په توګه څو تنو سره همداسې چلند وشو.

د نادرشاه دولت د خپلو اداري اصولو له مخې د هېواد او حکومت په چارو کې د یو شمېر ځمکوالو او فیوډالانو د راګډولو په لړ کې هم یو څه کارونه وکړل. په دې لړ کې یې د ملوك الطوایفي له منځه تللي دود او امتیازات بیا راژوندي کړل او د کرنیلي، برګډي او جرنیلي (ملکي) رتبې یې بېرته معمول کړې او له شلو زیات سیمه ییزو ځمکوالو د نایب سالاري رتبې ترلاسه کړې او فرقه مشر یا هم جرنیلان شول (و. ك: د افغانستان لومړنۍ کالنۍ- ۱۳۱۱ل. کال چاپ ۵۲-۵۳ مخونه) او له دوی څخه څو تنه یې د هېواد بېلا بېلو برخو کې د حاکم په توګه مقرر شول او نور یې په خپلو سیمو کې د مستمري معاشونو او ملکي رتبو لرونکي شول. په ۱۳۰۹ل کال کې نادرشاه حکم وکړ، چې په هره میاشت کې به دوه ځله د پاچا له خداد پوښتنې کولو فرمانونه دهېواد ټولو روحانیونو او ځمکوالو ته استول کېږي. د بېلګې په توګه د اصلاح ورځپاڼې د ۱۳۱۰ل. کال د وري د میاشتې په ۲۹ ګڼه کې په پېنځم مخ کې ولیکل: د پاچا ددغه ډول فرمانونو شمېر د نادرشاه سلطنت په لومړیو ۱۷ میاشتو کې له ۴۲۰۰۰ فرمانونو څخه زیات و. همدا رنګه پاچا امر وکړ، چې د روژې په هره میاشت کې دې هر ماښام د دولت له خوا د ټولو ښارونو خانانو، د قوم مشرانو، او مخورو ته روژه ماتی ورکړل شي، همدا رنګه په همدې کال کې د روحانیونو خانقاوو، ملایانو او د پام وړ شیخانو ته مستمري معاشونه مقرر شول او پاچا امر وکړ، چې په اخترونو کې به دوی هر یوه ته سوغاتونه او لونګۍ ورکول کېږي. وروسته هغو ملایانو ته نغدي مکافات ورکړل شول، چې د اړ و دوړ پر مهال یې د امان الله خان او د سقو زوی په ضد فعالیتونه کړي وو. (ددغو پېښو تفصیل د اصلاح د ۱۳۱۰ کال د ورځپاڼې ددوهم کال په ګڼو کې لیکل شوی دی).

دا یوازې نه، بلکې د ۱۹۲۹م. کال په دسمبر کې د ملایانو ټولنه تصویب شوه، چې وروسته په کابل کې "جمعیت العلماء" د نادري دولت له پلوي فقهاوو او ملایانو څخه جوړ و، چې نامتو غړي یې دا وو: مولوي بهرام خان کندهاري، مولوي محمد ابراهیم خان کاموي، مولوي عبد الرب خان اندړ (د تمیز محکمې رئیس)، مولوي حفیظ الله خان، قاضي عبدالکریم خان او نور... ددې موعظې، خطابې او مقالې خپرولې او پاخون کوونکو په ضد یې فتواګانې صادرولې او د حکمرانی (واکمنی) کورنۍ بې قید او شرط اطاعت یې د خدای امر باله. دوی به هره چهارشنبه د پاچا په حضور کې مذهبي بحثونه کول او په ټولو دولتي مراسمو او غونډو کې به یې د شورا او مشرانو جرګې د غړو په کتار کې ځای درلود. پاچا په خپل دربار کې یو شرعي مشاور هم درلود (ملا عبدالشکور خان) هر ملا به چې په افغانستان کې مړ شو. د هغه کورنۍ ته به یې یو د خواشیني پیغام استاوه. دافغانستان د وزیرانو په ډله کې د هغه مهال تر ټولو نامتو روحاني نورالمشایخ (فضل عمرخان مجددي) د عدلیې د وزیر په توګه او د یو هراتي

مجددي (فضل احمدخان) د عدلیې وزارت د مرستیال په توګه ټاکل شوي وو. یو هراتي قاضي (میر عطامحمد خان) د مشرانو د جرګې رئیس وټاکل شو او یو هراتي مفتي (صلاح الدین سلجوقي) په هند کې افغاني قونسل او وروسته بیا وزیر او بیا سفیر شو. محمد صادق خان المجددي په مصر کې د افغانستان مختار وزیر شو او همداسې یو شمېر نور روحانیون او د کونړ سیدان لکه سید عبدالحمیدخان پاچا او سید غلام رسول خان پاچا او نور د سیمه ییزو حکومتونو چارواکي وټاکل شول او یو شمېر په هندوستان کې و په افغاني قونسلګریو کې مقرر شول او مولوي عبدالرحیم خان اندړ د قطغن او بدخشان والي شو. آن دا، چې د کابل رسمي جراید هم ملا محمدامین خوږیاڼي او ملا برهان الدین خان کشککي (د هندوستان د مذهبي مدرسو تعلیم یافته وو) ته وسپارل شول. یو شمېر ورځپانه لیکونکو ملایانو د ځوانانو په ذهن کې د حکومت پالنې مفکوره د درواغو او غوړیالي له لارې ترزیق کوله. یو شمېر محتسبان د افغانستان په یو شمېر ښارونو کې د لمونځونو او روژې د محاسبې لپاره وټاکل شول تر څو متمردین د درې په وهلو سره په شرعي توګه مجازات کړي. یو ناخاپه په ۱۳۰۹ل. کال ملا حفیظ الله خان، چې د درین په نامه یې ډېرې مقالې او لیکنې خپرولې ومړ، نادرشاه په خپله شخصاً د الکشا په ماڼۍ کې د هغه فاتحه واخیسته. د اصلاح ورځپانه کې هم دغه خبر راغلی و. دلته ددغو ملا ډوله خلکو یوه یا دوه د فتوا بېلګې راوړو:

د افغانستان د جمعیت العلما په یوه اعلان کې، چې ددغه ګوند شلو تنو لاسلیک کړی و وروسته تر اوږده تفصیل څخه د حکومت په ضد د خلکو د پاڅون په هکله (په دې وخت کې د کلکان او کوه دامن یو شمېر خلکو د حکومت د غچ اخیستونکو فشار په وړاندې پاڅون کړی و) په پېنځم ټوک کې ویلي وو، چې: "د پاچاهي په وړاندې د یاغي او باغي سزا له کفارو سره برابره او په توره باندې یې وژل دي او هغوی په قتل ورسوئ.

(من اتاکم امرکم جمیع علي رجل و احد بریدان یشق عصاکم او یفرق جماعتکم ما قتلوهم) (د ۱۳۰۹ل. کال د اصلاح ورځپانې دربیمه ګڼه د زمري میاشت، دوهم مخ.)

د مولوي محمد سرور خان په قلم یوه بله بېلګه، چې د اصلاح په اخبار کې راغلې وه، لنډیز یې دا دی:

"د کلکان د داود زیو خلک او د کوه دامن اوسېدونکي د الله له مسلمانۍ څخه په پړاوونو لرې شوي دي، حکومت به تر څو د هغوی مراعات کوي؟ پر مسلمانانو لازمه ده، چې د هغوی په نیولو هڅه وکړي، چې د خدای او رسول دښمنان دي او حکومت دې په کلکه په هغوی باندې د خدای امر تطبیق کړي.

والسلام علی من البتع الهدای"

په هر حال به د افغانستان حکومت، چې د شریعت نقاب یې پر مخ غوړولی و، د هېواد په پلازمینه او ولایتونو کې یې د یو شمېر دیني مدرسو په جوړولو کې د هرات دارالعلوم، د هغې نجم المدارس او د کندهار محمدیه مدرسه او نورو باندې لاس پورې کړ او د حافظانو مدارس یې پیاوړي کړل. همدا رنګه دولت د افغانستان ټول ملایان تر بیرغ لاندې له عسکري خدمت څخه معاف کړل. د نادرشاه پر مهال په هېواد کې د روڼ اندو تکفیر او تعزیز یوه دوره پیل شوه او د اصلاح رسمي جریدې په خپله یوه مقاله

کې داسې ولیکل: "... یو سم حکومت کولای شي، چې د خلکو طبایع بدل کړي..." په دې ډول یوه اداري چاپیریال کې طبعاً د افغانستان حکومت د نجونو ټول ښوونځي، انجمن او جراید وتړل او افغاني محصلانې یې له ترکیې څخه افغانستان ته راوغوښتلې او د ښځو لپاره یې بېرته حجاب او بورقه وټاکله آن دا، چې امر یې وکړ، چې په راتلونکي کې دې افغاني مطبوعاتو کې د هېڅ یوه افغان داسې عکس، چې سر یې لوڅ وي چاپ نشي او د ناچارۍ له مخې یې دولتي انځورګر (ښاغلی برشنا) ته (چې هغه هم محمدزی و) امر وکړ، چې لوخ انځورونه د هغه وخت په دود شویو خولیو باندې پټ کړي، له دې سره ټول خرافاتي او ارتجاعي دودونه را ژوندي او وهڅول شول.

## دارګ اصلي کابینه او فرعي کابینه

کله، چې د پاچا ورور محمدهاشم خان د صدارت د نیولو لپاره له کندهار څخه کابل ته راغی، دانیس اخبار کې ولیکل شول: "په پام کې ده چې د هند له میسوري څخه د محمودطرزي د راتګ په ورځ بدر محمد قاسم خان راتګ ته هر کلی وویل شي."

روڼ اندي په څرګنده توګه وپوهېدل، چې د انیس دغه بېځایه تذکر یو ځانګړی سیاسي مفهوم لري او هغه دا دی، چې محمود طرزي د افغانستان د ملت استازی دی، چې د افغانستان د بشپړ سیاسي استقلال د تینګښت لپاره هند ته تللی و او اوس بېرته راستنېږي، حال دا چې محمدهاشم خان په معنوي توګه له هند څخه دغه ډول بشپړ استقلال د له منځه وړلو لپاره افغانستان ته راغلی دی. له دې لامله، چې د انګلیس د دولت عادت و، چې لکه د نظامي انتقام په شان د سیاسي او ادبي انتقام په لټه کې هم و. په دې توګه دانیس دغه خپرونه همداسې یو ډول غچ اخیستنه وه، لکه هماغسې، چې د خپلواکۍ د ځلي په وړاندې یې د نجات ځلی جوړ کړ. په هر ترتیب، محمدهاشم خپله کابینه له لاندنیو کسانو څخه جوړه کړه: د حربیې وزیر شاه محمودخان د صدراعظم ورور، د بهرنیو چارو وزیر فیض محمد خان ذکریا د صدراعظم خپلوان، د کورنیو چارو وزیر محمدګل خان مومند، د مالیې وزیر میرزا محمد ایوب خان، د معارف وزیرعلی محمد خان، د عدلیې وزیر نورالمشایخ مجددي او په ده پسې وروسته بیا فضل احمدخان مجددي (قضایه قوه له اجرائیه قوې سره یو ځای وه) د سوداګري وزیر میرزا محمدخان یفتلي، د طبیه چارو خپلواك رئیس محمد اکبر خان محمدزایي او د مخابراتو خپلواك مدیر رحیم الله خان، خو دغه کابینه هسې په نوم کابینه وه، په حقیقت کې وزیران یواځې او یواځې د صدراعظم شخصي سکرتران وو. هېڅ وزیر د وزیرانو په غونډه کې د صدراعظم له اجازې پرته د نفس ایستلو حق هم نه درلود، آن دا، چې له وزارت څخه استعفا کولو قدرت یې هم نه درلود. هېواد ټولې مهمې پېښې او چارې د ارګ په اصلي کابینه یعنې د پاچا د ورونو تر منځ په پټه توګه پر مخ وړل کېدې او صدراعظم پرته د کوم تصویب څخه او پرته د وزیرانو د غونډې له لاسلیك څخه اجرأت کول، خو تاریخي مسئولیت یې د تالي ځټو وزیرانو په غاړه وراچاوه. دا یې یو دوه بېلګې دي:

Scanned by CamScanner

د ۱۳۱۱ل. کال د لړم په شپاړسمه نادرشاه غلام نبي خان څرخي وواژه. له دې څخه یوه ورځ وروسته د اصلاح رسمي جریدې د لړم په ۱۷مه نېټه په خپله ۸۲ ګڼه کې ددغه ناورین خبر د افغانستان خلکو ته ورساوه او ویې لیکل: "دغه سړی قاتل، عیاش، فاسد او قاچاق بر و" له دې څخه یوه ورځ وروسته د لړم په۱۸ مه نېټه یې په ۸۳ مه ګڼه کې بیا ولیکل: "اعلیحضرت د غلام نبي له وژلو وروسته د وزیرانو او معینانو شورا، مخورو او د جمعیت العلما د غړو په ګډون په صدارت کې یوه غونډه جوړه کړه او په هغې کې یې د غلام نبي د وژلو لامل طرح کړ: غونډې تصدیق وکړ او یوه عریضه تقدیم کړه او پکې ویې لیکل، چې د ملحوظه مجلس له پاښو څخه د هغه پخواني خیانتونه لاحقه ثابت شول. هغه سزا، چې اعلیحضرت ورته ورکړې ده. د ټولو خلکو د منني وړ ګرځېدلې ده مونږ د زړه له تل څخه د اعلیحضرت دغه کار ستایو".

یعنې د افغانستان کابینې ټول هغه فجایع چې د سلطنت مقام ترسره کول، د عمل له ترسره کېدو وروسته تصویبول او تاریخي مسئولیت یې په خپله غاړه اخیست. د ۱۳۱۲ل. کال د وږي په ۱۲مه نېټه د حکومت له ډله ییزې یوې وژنې وروسته یو تن (میرزا محمد مهدي خان) نومې هم ووژل شو، چې دغه سړی د هغه وخت د مالیې د وزیر میرزا محمدایوب خان نږدې خپلوان و، دغه وزیر د صدراعظم له ویرې څخه د وزیرانو په غونډه کې لاسلیک کړ، کله چې وزیر د خپل دغه خپلوان فاتحې ته ورغی صدراعظم وریاندې په غوسه شو او له دولتي دندې څخه یې لرې کړ، تر څو چې مړ شو.

په واقعیت کې دهېواد دري ګوني څواکونه (که دا اطلاق سم وګڼو) په عملي ډول فقط په خپله پاچا او د هغه دوو ورونو (صدراعظم او د حربيې وزیر) پورې تړلي وو، له همدې لامله روڼ اندو هغو ته په کنایي سره (اقائیم ثلاثه) نوم ورکړی و، البته په دولت کې یو څو تنه نور هم دغه ((سپېڅلي حریم)) او په دغه حرم کې ننوتي و او څه نظرونه یې ورکول لکه الله نوازخان ملتاني، شاه جي عبدالله پنجابی، فیض محمدخان، زکریا او علي محمد خان بدخشاني، له دې ټولو سره سره دغې افتخاري کابینې یوه میراثي بڼه درلوده، لکه هغسې چې د افغانستان سلطنت میراثي و او یو وزیر باید ټول عمر وزیر وای، که مړ به شو، نو ځای یې د هغه زوی ته ورسپارل کېده، د بېلګې په توګه کله چې میرزا محمد خان یفتلي مړ شو، نو دده پر ځای دده زوی عبدالله خان یفتلي د کابینې غړی شو. همدا رنګه د عدلیې وزیر قاضي عطامحمدخان له مرګ څخه وروسته د هغه زوی میرحیدر حسیني د کابینې غړی شو.

دا، څکه چې د دوی پروګرام استعماري بڼه لرله، کله به یې چې یو تن ومانه، نو دهغه کورنی ته به لاره هواره کړه او یو نسل به یې په بل پسې د خپل چوپړ لپاره تر روزنې لاندې نیول. په دې کې د محمدزیو یو شمېر کورنی او د ملکیار غزنوي د کورنی څو تنه غړي یادولای شو، لکه ماهیار وردګي، پوپل لوګري او نور، خو د افغانستان د ملي مبارزینو د کورنیو په اړه ددې سرچپه چلند ترسره شو، یعنې د دوی د کورنی یو تن به که وشړل شو، نو ټوله کورنی او آن ملګري به یې ټکول کېدل او له ټولنې څخه به ورکېدل لکه د محمد ولي خان بدخشان کورنی، د غلام نبي خان څرخي کورنی، ناظر محمد صفر خان، شجاع الدوله خان غوربندي او نور.

د افغانستان واکمنې کورنۍ سره له دې، چې د اتلسمې پېړۍ د اریستوکراسي استازیتوب کاوه، خو هغو کسانو ته یې لاره پرانیستې پرېښودله، چې د جاسوسۍ په غ وره کولو سره به یې د حکومت لپاره چوپړ کاوه او یا به هم د حکومت له یوه لوی سړي سره مهم و یا به هم له کورنیو او بهرنیو هغه کسانو سره په پټو خبرو کې شریك و، چې واك یې درلود. له همدې لامله په افغانستان کې یو نوې ګډوله قشر رامنځته شو، چې په هېڅ قالب کې نه جوړېد، خو یواځې د دولت د قالب لپاره ښه جوړ وو. د بېلګې په توګه یو عادي میرزا د نړۍ یوه لوی هېواد ته د افغانستان د لوی سفیر په توګه استول کېدای شو (میرزا نوروزخان لوګري د ارګ د باشي په توګه ټاکل کېده (محمد عالم لعلپوري هغه څوك، چې افغانستان ته راتلونکي هندي خپلواکي غوښتونکي یې څارل) په بازار کې یو درمل پلورونکي کمپوډر، یو ناڅاپه د ډاکټر په توګه او د غونډ مشري په رتبه نظامي دند کې مقرر کېده (زین العابدین) یو تن ملا امام دهېواد د سنا د مجلس لومړی نایب وټاکل شو (حافظ عبدالغفارخان چې د مشرانو د جرګې مرستیال شوی و) او یا هم یو لږ سواد لرونکی کاتب په عراق کې د افغانستان مختار وزیر شو (میرزا عبدالرحمن خان پوپل) او وروسته یې بیا د هېواد په چارو کې مهم دریځ ترلاسه کړ. په دې توګه چې حاضر باشان، پیشنۍ متان؟؟ او د شاهي کورنۍ د دایه ګانو زامن مامور، رییس او حاکمان کېدل، نو بیا د لیاقت او وطنپالنې خبره نه پاتې کېده. همدا رنګه یو شمېر ناپېژندل شوي او مرموز خلك په عجیب شکل په پټه او ښکاره توګه را څرګند شول او په څو کلونو کې د پیسو، نوم او ماڼیو خاوندان شول او د هېواد د اشرافو په کتار کې ودرېدل. له دې کبله، چې تاریخ اسنادو پورې تړلی دی. نه استدلال پورې او په دې ډول بېلګو کې د اسنادو موندل که ناممکن نه وي، نو ستونزمن خو خامخا دي، په تېره بیا د افغانستان په شان یوه تړلي چاپیریال کې. چې هلته لکه ددغه واکمن خاندان په شان د ځواك یوه کړۍ تینګهوي، نو نشي کېدای، چې په څرګند ډول سره د داسې کسانو نومونه واخلو که نه د بېلګې په توګه به مو ویلای، چې آیا د حمل او نقل رئیس غلام جیلاني خان صادقي، یا عبدالرحیم خان قنار هوټلي او نور څوك دي او په څه ډول میلیونران شول او مثلاً محمد علیخان لاهوري (د مزنګ سرای مغل اوسېدونکي) چې وروسته پروفیسر شو او په لسګونو داسې نور، دوی څوك وو او په څه ډول په افغانستان کې شتمن شول؟ په دغه ډول یوه ظالمه فضا کې چې افغانستان کې راوستل شوه، نو حکومت ملت ته د جاهل، خاین او پردي په توګه کتل او روڼ اندي لکه د ګوډي په شا غله په توګه ویریدلي وو او تر دایمي خوف لاندې یې ژوند کاوه. د حکومت ددغه فشار موخه، چې اصلي نقشه یې د استعماري طراحاتو په لاس جوړه شوې وه او د اروا پوهنې له پلوه یې د خلکو په ذهن ډېره ژوره اغېزه لرله، د افغانستان د زړور ملت مسخ کول او په یوه ماتې خوړلې، مطیع او درویزه ټولنه باندې ددغه هېواد بدلول و، چې باید ملت لکه د یوه مړي په شان د حکومت د مړو مینځونکو لاس کې وي او هېواد یا تجزیه کېدو ته یا هم استعمار ته د تسلیم کېدو په خاطر چمتو کړي. ددغې نقشې په تطبیق کې په خپله پاچا او د هغه ورونو محمد هاشم خان صدراعظم او د حربیې وزیر شاه محمود خان برابره ونډه لرله او دوی هر یو یې یو مطلق العنان پاچا و. دوی هر یوه په پلازمینه او د هېواد په ولایتونو کې په خپل امر پرته له تحقیق او محاکمې څخه خلك وژل، شکنجه کول او بندیانول او یا به یې تبعید کول او شتمني یې مصادره کوله. کورنۍ یې برباد، کلا یې نړوله او خلك یې ټکول، نو ځکه د نادرشاه حکومت له هماغه پیل څخه خپل لاسونه د خلکو په وینو ولړل. دغه حکومت هڅه کوله، چې ځان د خلکو په وړاندې د عبدالرحمن خان خلف الصدق وښيئ، خو خلك ډېر ژر وپوهېدل، چې ددغه حکومت او د

امیرعبدالرحمن خان د حکومت تر منځ هم لا په استبداد کې د ځمکې او اسمان په اندازه توپیر شته. امیرعبدالرحمن خان په نولسمه پېړۍ کې وینې څښلې او نادرشاه په شلمه پېړۍ کې. هغه د انګلیسانو په ورانډې د هېواد له بهرنۍ خپلواکۍ څخه سترګې پټې کړې او دغه بل له کورنۍ خپلواکۍ څخه. امیر خپل مرام د تورې په زور عملي کړ او نادرشاه په توطئه او تیغ. امیر، چې څه له خلکو واخیستل د هېواد دننه ورڅخه پاتې شول، خو نادرشاه چې څه ترلاسه کړل، هغه یې په پردیو هېوادونو کې زېرمه کړل...

# شپږم
# په افغانستان ویره او ترور

په کابل کې د نادرشاه د حکومت له جوړېدو سره سم، په یو شمېر خونړیو عملیاتو لاس پورې شو، چې معمولاً د هېڅ سلطنت په پیل کې ورڅخه هیله نه کېږي. له هماغه پیل څخه د وینو په تویولو کې د پاچا له لیوتنوب څخه ډکه بې خوصلګي د خلکو فکر دې ته راواړاوه، چې ګواکې واکمنه کورنۍ د افغانستان ملت باندې د غچ اخیستلو یو پور لري. کله چې پاچا د بالاحصار په کنډوالو کې د محکومینو د وژلو ځای وټاکه او سرې وژونکې توپونه یې هلته ودرول، نو د کابل خلکو به په په ښکاره ویل، چې کیوناري د کسات د اخیستو لپاره داکارونه کوي، دا ځکه چې همدلته خلکو د انګرېزانو سفارت ته اور اچولی و او ۷۰۰ تنه انګرېزان یې وژلي وو. کله چې د حکومت زندانونو د سلطنتي ارګ دننه، د کوتوالۍ په قوماندانۍ، د ښار په سرایونو او دهمزنګ کې د ښځو او نرو د تیرولو لپاره خپلې خولې پرانیستې او ببلا ببل کړاوونه (لکه په لرګیو وهل، قین او پانه، بیخوبي تیرول، لوږه، ښکنځلې او نور) پیل شول، خلک ډاډه شول، چې یو ځل بیا د امیر عبدالرحمن خان دوران راغلی، خو یو ځرګند توپیر یکې دا دی، چې د نادرخان کورنۍ له هندوستان څخه راغلې ده.

حکومت د خپل ځان په هکله د خلکو په دغو ټولو نظرونو باندې پوهېد، او خبرې ورته رسېدلې، خو د ځان د اصلاح کولو پر ځای یې کینه، دښمني او لجاجت نور هم زیاتوه، تر دې پورې، چې له ملت سره یې نور د روغې-جوړې یو تکی ځای هم پرې نه ښود. حکومت امر وکړ، چې د پلازمینې خلك وروسته ماخستن تر لمانځه څخه تار سهاره پورې له خپلو کورونو څخه نشي وتلای ددغو قیودو لپاره به په اوږې کې د شپې لس بجې او په ژمي کې د شپې نهه بجې د شپې توپ وویستل شو او کابل ښار به لکه د هډیرې په شان تورتم شو. د استخباراتو او ضبط احوالاتو، د کوتوالۍ قوماندانۍ او سیمه ییزو چارواکیو ته واك ورکړل شوی و، چې په هر چا شکمن شي هغه دې بندي کړي. شاهي زندان کې واچوي. ما په خپلو سترګو د کابل په زندانونو کې داسې ځوانانو ولیدل، چې د اشرافو په کورنیو کې یې خدمت کړی و، خو په دې تور کې چې د کور میرمنې ورته غوسه شوې او کوتوالۍ ته یې هغه د تورن په توګه معرفي کړي. نو په میاشتو او کلونو پرته له تحقیق څخه په زندانونو کې په لوږه او نیم لوځ پراته وو. د محبس او آن د سیاسي محبس مامورینو کولای شول، چې بندیان ووهي او ښکنځلې ورته وکړي. د کابل امنیه قوماندان طره باز، د کابل امنیه مامور عبدل وزیر آبادي، د سلطنتي ارګ زندان ساتونکي سراج الدین ګردیزي، د کندهار کوتوال عبدالقادر لوګري، د فراه کوتوال محمد یوسف هراتي، د سرای موتي د زندان ساتونکی نثار احمد لوګري، د ارګ قلعه بیګي عبدالغني خان ګردیزي او داسې نورو په ټول

Scanned by CamScanner

افغانستان کې د سیاسي او جزایي بندیانو په وړاندې، ګناهکارو او بې ګناهو داسې چارې ترسره کولې، چې هیتلریانو د یهودو په وړاندې نه وې ترسره کړې. د لیسو مشران زده کوونکي په بېلا بېلو نومونو له ښوونځیو څخه وکښل شول (په تطمیع، تخویف او فریب او دوکه). تر څو چې د هندي ښوونکو تر لارښوونې لاندې یو بل نوی نسل وروزل شي. په ارګ، ولایت کوتوالي، د کورنیو چارو وزایرت او د عظمی په صدارت کې د میرزا محمدشاه خان ننګرهاري تر ریاست لاندې بېلا بېلې د جاسوۍ اداري، چې نوموړې مخکې د افغانستان له پولو ها خوا له پټو ادارو سره د خپل پوستې مدیریت په دوره کې په اړیکو لرلو تر شك لاندې و، جوړې شوې. د جاسوسۍ دغه ادارو په ټول افغانستان کې همدا دنده لرله، چې په خپله د افغانستان خلك په تېره بیا ځوانان تر څارنې لاندې ونیسي. له ماموریت او ښوونځي څخه ایستل، د هېواد دننه او بهر تبعید کول لوړ خلك د شتمن ضبطول یو عادي کار ګرځېدلی و. حکومت امر وکړ ا اصلاح اخبار کې یې نشر کړ، چې: "د کابل او شش کروهې خلك ځان سره وسله نشي ساتلای."

## نادرشاه او محمدولي خان

نادرشاه کابل ته د خپل راتګ په هماغه پیل (د ۱۹۲۹م. کال په مني) کې پخوانی جنرال بیك خان، میرزا محمداکبرخان، امرالدین خان، عبداللطیف خان کوهاټي، محمدنعیم خان کوهاټي، عیسی خان قلعه سفیدي، تازه ګل خان لوګري. سلطان محمدخان مرادخاني، محمد حکیم خان چهاردهي وال و احتیاط کنډ کمشنر احمدشاه خان، پغمان غونډ مشر دوست محمد خان او کندهاری کندك مشر سید محمدخان پرته له محاکمې څخه په ګولیو وویشتل.

نادرشاه یو شمېر نور لکه آقا سید محمدخان، میراحمدشاه خان، احمد جانخان او د هغه زوی ... محمدخان، عبدالرحیم خان محمد آغه یي، شیردل خان او نوردل خان لوګري او عبدالرحیم خان پیاروخېل تبعید او بندیان کړل. د اصلاح جریدې دغه خبر د ۱۳۰۸ل. کال د لیندۍ په ۲۴مه په اتمه ګڼه کې (د نادرشاه له کېناستو څخه دوه میاشتې وروسته) خپور کړ. دلته خلکو ته دا پوښتنه پیدا شوه هغه خلك یو ناڅاپي د دوی له کورونو څخه راغوښتل او پرته له تحقیقاتو او پرته له کومې شرعي محکمې څخه یا پرته له کومې نظامي یا عریضې فیصلې څخه یې د برزر اعدام کول او یا به یې هم تبعید او بندیانول او خلك دې ته حیران وو.

وروسته بیا داسې یو څوك لکه محمدولي خان (د پاچا امان الله خان وکیل) چې د هېواد د خپلواکۍ په ترلاسه کولو کې یې بې شمېره خدمتونه کړي وو، حکومت هغه د ۱۹۲۹م. کال په ژمي کې بندي او محمود سامي د خلکو د کرکې وړ سړي سره یو ځای یې محکمې ته وغوښت (په داسې حال کې، چې محمود سامي یو نظامي افسر و، چې د هغه د محاکمې ځای د حرب دیوان و، نه بلکې عالي دیوان). دا کار ځکه وشو، چې محمد ولي خان د خلکو په نظرونو کې لکه د محمود سامي په شان یو مشکوك وګرځوي. په دې حکم کې د نادرشاه استناد هغه یوه جعلي عریضه وه، چې له یو شمېر (سقویانو) څخه

Scanned by CamScanner

یې ترلاسه کړې وه، چې دوی یې له نوي حکومت څخه په وېره کې ښودلي وو او ویلي یې وو، چې د سقو د زوی په اړ-دوړ کې یواځې دوی نه و، پلکې د امان الله خان د حکومت یو شمېر خلک لکه د محمد ولي خان په شان هم ګډ و او د سقو د زوی ملاتړ یې کړی و، خو محمدنادرخان په بل هیڅا غرض ونه کړ (لکه احمدعلي خان لودین او په لسګونو نور بهرنیانو پلویان) یواځې یې محمدولي خان یې د سیاسي مخالفت له لامله درواغجن عالي دیوان ته وسپاره. ددغه مصنوعي عالي دیوان رئیس عبدالاحد خان وردګی (ماهیار) و او پیشکار یې احمدعلي خان لودین او د جرم د اثبات مدعي یې ملا میرغلام ننګرهاری او د دیوان مهم غړي علي محمدبدخشانی د معارف وزیر او میرزا محمدحسین خان امان الله خان په وړاندې د سقو له زوی سره ملا تړلې وه او هغه یې په شا تګ ته اړ کړ.

احمدعلیخان هغه څوک و، چې د سقو د زوی داره یې د امان الله خان په وړاندې د دولت په وسله باندې سمبال کړې وه. ملا میرغلام هم د امان الله خان یو ډېر کلک دښمن و، چې په انیس ورځپاڼه کې د نوموړي له دښمنۍ ډک او ارتجاعي مقالې د پاچا امان الله د ترقي او تحول په ضد خپرې شوې دي. علي محمدخان او میرزا محمد حسین خان لا د مخه د روڼ اندو تر سیاسي شك لاندې راغلي کسان وو او د استعماري سیاست په پلویتوب منظنون وو. د محمد ولي خان د جرم د ثبوت شهادت ورکوونکي هم د سقو د زوی د ډلې غړي او کسان وو لکه: خواجه بابو خان کوه دامني چې د سقو د کورنیو چارو وزیر، عطاالله خان صاحبزاده، چې د سقو د زوی د بهرنیو چارو وزیر و، آغا سید احمدخان د سقوي ضرابخانې رئیس، سید آقا خان د سقوي کوتوالي قوماندان، خواجه میرعلم خان د سقوي کورنیو چارو وزیر ورور، میرزا عبدالقیوم خان سقوي مستوفي او محمدعمرخان او عبدالرحیم خان کوه دامني. همدارنګه د نوي حکومت یو شمېر مامورین لکه د عدلیې د وزارت معین ګل احمدخان مکیار، امیر محمد یهودي او زین العابدین. ددغه عالي دیوان غړي ۷۵ تنه وو، چې په هغه کې دوه تنه د واکمنې کابینې غړي، ۲۳ تنه یې د درواغجن شورا غړي او ۳۲ تنه له ولایاتو څخه وو.

په پیل کې د تحقیق د هیئت غړو (حافظ جي عبدالغفارخان میرزا محمد حسین خان دفتري چې هلته یې څرګند او قانع کوونکي ځوابونه ترلاسه کړي وو. دې پسې وروسته د ۱۳۰۸ ل. کال د سلواغې په ۱۵مه نېټه د عالي دیوان لومړنۍ غونډه جوړه شوه او د لومړنیو تحقیقاتو پاڼې (د محمد ولي خان په غیاب کې) ولوستل شوې. د همدې کال د سلواغې په شلمه د عالي دیوان دوهمه غونډه (محمدولي خان تر مخې) دستور په ماڼۍ کې جوړه شوه، چې څو تنه اورېدونکي هم پکې ناست وو.

د (جوانان افغان) د سیاسي ګوند درې تنه غړي (غلام محی الدین خان آرتي، عبدالرحمن لودي د کابل د ښاروالي رئیس او د همدې کتاب لیکوال) او د هندوستان یو نامتو خپلواکۍ غوښتونکی (راجه مهندر پرتاب) هم ناست وو. محمدولي خان راوستل شو او د رئیس د میز په وړاندې ودرول شو، هغه په هماغه پخوانۍ آرامه او درنه څېره ولاړ و او په متانت او سره سینه یې د لومړنیو تحقیقاتو پاڼو ته غوږ نیولی و، له دې لامله، چې دده لیکل شوي ځوابونه د تحقیق د هیئت د تورونو برخلاف وو او د هغوی تورونه یې باطل کړي وو، په دې هیله و، چې د غونډې مشر به د حکومت تورونه هغه په ضد ثابت کړي. د جرم

Scanned by CamScanner

د اثبات مدعي په دروغو جوړ شوي شهادتونه وړاندي کړل او تر ټولو مخکې احمدعلي خان لودین د شهید باالله په لفظ سره شهادت ورکړ، چې: "محمدولي خان د سقاو زوی ته د امان الله خان د ژمنې د نه ترسره کولو راز پټ وساته او حبیب الله او سید حسین ته یې خبر ورکړ، چې په حکومت بد ګمان شوی، نو ځکه یې اړ-دوړ پیل کړ" یعني کله، چې په خپله احمدعلي د پاچا د تنظیمیه رئیس په توګه د سقو له زوی سره په قرآن باندې لوړه کړې وه او د هغه د ژوند ضمانت یې کړی و، دا محمد ولي خان و، چې د سقو زوی یې خبر کړ، چې د غه ژمنه د پاچا له لوري ونه پېژني او باور وربانديې ونه کړي. حال دا چې محمد ولي خان په لیکلي توګه روښانه کړې وه، چې د پاچا له لوري د خپل وکالت پر مهال "چې هغه وخت د سقو زوی غرونو ته یو تښتېدلی غل و، نو هیله یې وکړه، چې له هغه سره دده د ژوند د تضمین ژمنه وشي او ځان تسلیم کړي، خو ما له یوه غله سره دا ډول ژمنه ونه منله او د هغه بې قید او شرط تسلیم کېدل مې غوښتل" کله چې احمدعلي خپل شهادت ورکړ، محمدولي خان هغه ته په سپکه وکتل او خپل پخواني ځواب یې تکرار کړ او دا مهال احمدعلي پاڅېد او په سپین سترګی سره یې وویل: "والله خاین یې، باالله خاین یې" محمدولي خان د غونډې مشر ته وویل: "تاسې چې د غونډې رئیس یاستو د خبرو-اترو د ادب ساتنه ستاسې په غاړه ده، اجازه[1] راکوئ چې د احمدعلي خان په شان یو سپین سترګی بې ادبه خبرې وکړي، خو زه حاضر یم، چې نه یوازې دا چې د اعلیحضرت امان الله د وکیل په توګه د خپلو کارونو څخه دفاع وکړم، بلکې خپل ځان د اعلیحضرت امان الله خان د عملونو او خبرو مسئول او ځواب ویونکی هم بولم" خو د غونډې مشر وخت ورنه کړ او نور شاهدان یې ودرول هغوی ټولو په بېلا بېلو بڼو دروغ وویل او د سقو له زوی سره یې د محمدولي خان د اړیکې د شتون په هکله شهادت ورکاوه.

ناپېیلې اوربدونکي ټول هک پک او حیران وو. دوی ته حیران و، چې څرنګه د سقو ملګري او چوپړ کوونکي راټول او دلته ډاډه ناست دي او یو بل څوک دسقو له زوی سره په ملګرتوب تورن کوي او په څه ډول سره د پاچا امان الله خان دښمنان (لکه عبدالاحد خان. احمدعلیخان او د نادرشاه د کورنی غړي) یو بل څوک د پاچا امان الله خان په دښمنی تورن او محکوم کوي. په همدغو شېبو کې غلام محی الدین خان آرتي د اوربدونکو له لیکو څخه راپاڅېد او غږ یې وکړ:

"د افغانستان دغه صادق وګړي، چې تاسې تورن کړي، ولې یې نه پرېږدئ، چې ددغو تورونو په وړاندې ځانته مدافع وکیل غوره کړي؟ او..." لا ددغه سړي خبره پای ته نه وه رسېدلې، چې د غونډې د مشر په امر په کشولو کشولو د محکمې له تالار څخه وکښل شو "خو هغه شاهي بازار ته ولاړ هلته یې په لاره کې تلونکي خلك راټول کړل او هغوی ته یې د محمد ولي خان د شخصیت په هکله او د هغه په وړاندې د خاینانو د توطیئې په هکله تفصیل خبرې وکړي. هغه وویل، چې: "نوموړی ځکه محکوم شوی دی، چې هغه د انګرېزانو او ارتجاع په ضد دی..."

وروسې راجه مهندر پرتاب د اوربدونکو له لیکو څخه راپاڅېد او د غونډې مشر ته یې وویل: "سره له دې، چې زه یو بهرنی او په دې غونډه کې یو اوربدونکی یم او د خبرو کولو حق نه لرم، خو بیا هم

ستاسې پام را اړوم. چې محمدولي خان د افغانستان له لويو او نړيوالو څېرو څخه شمېرل کېږي، چې په بهرنيو هېوادونو کې يې د خپل هېواد د خپلواکۍ د پېژندلو لپاره ارزښتمن خدمتونه کړي دي. بايد تاسې د هغه په وړاندې د چلند او قضاوت کولو په برخه کې ډېر احتياط وکړئ او د هغه شخصيت په پام کې ولرئ تر اوسه پورې د زيات شمېر خپلواکۍ غوښتونکو (موخه يې د هندوستان مبارزين وو) له خوا بيلا بېل تفکرونه "دغه شخصيت او د هغه د ملاتړ په هکله رارسېدلي دي..." د غونډې رئيس، چې نشو کولای مهندر د غلام محی الدين خان آرتي په شان، چې د افغانستان يو تبعه و، سپک کړي، په نرمۍ سره يې هغه د يوه بهرني اورېدونکي په توګه د هغه دريځ ته خبر کړ. کله، چې مهندر کنبښاست له مقابل لوري څخه عبدالرحمن لودي د کابل د ښاروالۍ رئيس پاڅېد او ويې ويل: "تر دې څخه مخکې محکمه په نړۍ کې نه ده ليدلې شوې، چې لکه د محمدوليخان په شان يوه شخص په هغې کې د سقو د زوی په پلويتوب باندې محاکمه کېږي، هغه شاهدان، چې د هغه په وړاندې راوستل شوي دي، ټول يې د سقو د زوی ملګري او پلويان دي. له ګيډرې څخه يې وپوښتل، چې ستا د ادعا شاهد څوک دی؟ لکۍ يې وښوروله ويل يې دا مې شاهد دی..."

عبدالرحمن لودي خبرې نه وې پيل شوې، چې احمدعلي خان لودين راپاڅېد او د دوه تنو ساتونکو په مرسته يې د ښار د بلديې رئيس ونيو او له غونډې څخه يې بهر کړ. د غونډې رئيس د محمد ولي خان د محاکمې د غونډې پای اعلان کړ او په خپله محمد ولي خان يې زندان ته واستاوه. ورپسې يې محمود سامي راوغوښت او د هغه محاکمه يې پيل کړه. محمود سامي له امان الله خان سره په ضديت او د سقو د زوی ته د خدمت په تور تورن شوی و. محمد سامي د خپل ځان په وړاندې د تحقيق پاڼې واورېدې او د ځان په وړاندې يې تورونه رد کړل او هغه يې دروغ وبلل او ويې ويل:

"پاچا امان الله خان زما ولينعمت و او زما د هډوکي تر مغزو پورې د هغه له نعمت څخه ډک دي. ما هېڅکله هغه ته خيانت نه دی کړی. زما د جرم د اثبات دغه وکيل (پيرمحمد خان غوند مشر تره خيلی) هغه مهال، چې حربيه ښوونځي کې زما شاګرد و، نو هلته له ما څخه ځورېدلی و، نو ځکه زما په وړاندې يې ادعا کړې ده او دغه ادعا دروغ ده"

د غونډې مشر شاهدان وړاندې کړل او غونډه يې پای ته ورسوله. محمود سامي هم زندان ته واستول شو. دغه ډرامه يو ځل بيا د ۱۳۰۸ل. کال د سلواغې په ۲۲مه نېټه تکرار شوه. غونډې حکم وکړ، چې محمود سامي خاين دی، هغه دفع او جز ته حاضر کړ. محمود سامي لکه د مخکې په شان د خپل ځان په وړاندې دغه ټول تورونه ونه منل او د مدعي دعوا يې رد کړه. د محمود سامي له ايستلو څخه وروسته يې محکمې ته محمد ولي خان راوست. له هغه څخه يې دفع او جر وغوښت. دا ځل هم محمد ولي خان خپله دفاع په ليکلي ډول وړاندې کړه. د غونډې مشر او د جرم د اثبات وکيل ميرغلام بيا د دروغو شهادت وړاندې کړ. محمد ولي خان يې بهر کړ او په خپله يې د هغه د خيانت په هکله حکم ورکړ. د دغې غونډې فيصله په ليکلي بڼه پاچا ته وړاندې شوه. په دغې پرېکړه کې د محمد ولي خان په هکله راغلي وو، چې: "... په غالب (؟) نظر سره مو حکم وکړ، چې همدغه محمد ولي خان مدعي عليه ټولنې او ملت

او د افغانستان دولت ته خاین او مسئول دی او هېواد ته د خیانت له لامله د تعزیز وړ دی. او د تعزیز د دول ټاکل د اعلیحضرت محمد نادرشاه غازي نظر پورې اړه لري، چې هر څه لازمه وګڼي، نو په اجرا کې به یې شرعاً واک ولري" (و.ګ: محاکمه خائنین ملي محمد ولي و محمود سامي د کابل چاپ. ۱۳۰۹ل کال)

کله، چې نادرشاه د عالي دیوان پرېکړه ترلاسه کړه د ۱۳۰۹ل. کال د وري په نهمه نېټه یې یوه لویه غونډه، چې په هغې کې ملکي او نظامي مامورین او د کابل ښا و خوا او ښار یو شمېر معاریف د عمومي سلامخانې په ودانۍ کې راټول شوي وو، جوړه کړه او په خپله یې د غونډې مشرتوب ترلاسه کړ او د یوې وینا په ترځ کې یې وویل: "... زه د ټولنیزو مجرمینو محاکمه ملت ته سپارم او د محمد ولي او محمود سامي د محاکمې عالي دیوان مې جوړ کړ. دوی د ملت په وړاندې په خیانت باندې محکوم دي، چې سزا یې د حکومت واک ګڼل شوی دی. ددې لپاره چې ملي حاکمیت داډ من شي، دغه دوه ملي خائنین چې ستاسې په وړاندې تورن دي او د ستاسې ملت په لاس محاکمه کېږي او ستاسې په وړاندې یې جنایت او خیانت ثابت شوی دی او د سزا د ټاکلو لپاره هم د سزا ټاکل تاسې ته سپارم. دا وخت د بهرنیو چارو وزیر فیض محمد زکریا پاځېد او د عالي دیوان حکم او فیصله یې په خو سطرونو کې ولوستله، خو د تحقیق پانې، چې شمېر یې ۲۷ ته رسېد، همداسې پرېښودې. غونډه، چې د قضا له جریان او د پانو له کړښو څخه خبر نه و، په شک کې ولوېد. نادرشاه د پېښې د ډېر ژر حل کولو لپاره غونډې ته خبرې داسې پیل کړې: "د محکمې(؟) د پرېکړې له مخې یوه سزا بندي کول او بله سزا اعدام دي. لومړی دې د محمود سامي د اعدام پلویان ودرېږي".

له دې لامله چې محمود سامي لا پخوا څخه په خلکو کې بد نوم درلود او تر شک لاندې ګڼل کېده، د غونډې ډېر حاضرین ودرېدل. وروسته پسې پاچا وویل:

"د محمد ولي خان د اعدام پلویان دې ودرېږي، خو د هغه د زنداني کېدو پلویان دې ناست وي."

غونډه چې د اعدام او حبس دوو حکمونو تر منځ راګیر شوې وه او درېیمه لاره نه وه، نو د سزا د کمښت غوښتنه یې وکړه، زیاتره په خپلو ځایونو ناست و. نادرشاه په بیړه وویل: "غونډې د رایو په یووالي سره د محمودسامي د اعدام سزا وغوښته، نو باید هغه اعدام شي د محمدولي په هکله د غونډې د برابر شمېر درناوي په خاطر(؟) هغه ته د حبس زندان کافي بولم، د حبس موده به یې اته کاله وي"

له دې لامله، چې محمد ولي خان ونه وژل شو، د غونډې ګډونوالو بېرته له یوې د اعلان وکړ. د نادرشاه په ټوله دوره کې همدا د افغانستان د سیاسي بندیانو په هکله د سزا د ټاکلو لومړنی او وروستی علني مجلس و. تر څو چې بیا نادرشاه ژوندی و څوک یې په علني توګه محاکمه نه کړل. ده هر هغه څه چې خپله یې غوښتل هغه یې وکړل. په هر حال، محمودسامي په هماغه ورځ د پاچا د نظامي سریاوز سید شریف خان کونړي په لاس په یوه ګاډي کې د کابل د سیاه سنګ سیمې ته بوتلل شو او هلته په ګولیو وویشتل شو. د نادرشاه سریاور نوموړی سیدشریف یو اډه ور تکره دنګ زلمی و، چې د کابل په حربي ښوونځي کې یې لوست ویلی و. مور یې د چترال وه، دغې مور د تره یوه لور یې د الله نواز خان ملتاني چترالي

ښځه وه، نو ځکه سیدشریف خان او الله نوازخان ددغې خپلوۍ له لارې یو بل سره نږدې او دواړه د یوه مسلك لرونکي وو. د شاه جي یوه ښځه هم د چترال وه، چې په دې توګه شاه جي، سیدشریف او الله نواز درې واړه یو بل سره نږدې وو. سیدشریف خان د امانیه رژیم یو کلك دښمن او د افغانستان د ځوانانو مخالف و. هغه د نادرشاه په دربار کې د جلادي دنده هم ترسره کوله. غلام نبي خان څرخي د همدې سړي د ټوپك تر کونداغونو لاندې راغی او د محمد ولي خان په غاړه کې هم همده د غرغرې رسۍ واچوله او د عبدالخالق کړاوونه هم د همده په لاس ترسره شول. سیدشریف خان د (یك منظره عسکري) په نامه یوه رساله هم ولیکله، چې په کابل کې خپره شوه، چې په هغې کې د نادرشاه د رژیم ستاینه او سپکاوی وی و او له تشو پروپاګنډو ډکه وه. خو دغه کونړی جلاد ځوان ډېر عمر ونه کړ، هغه ډېر ژر له آس څخه ولوید او ماغزه یې د آس تر پښې لاندې خواره واره شول.

سره له دې، چې نادرشاه سمدستي محمدولي خان د وخت د غوښتنې له مخې مړ نه کړ. هغه یې بندي کړ، خو د هغه وژل یې خپله دنده بلل وه، نو ځکه یې د ۱۹۳۳م. په اوړي (د ۱۳۱۲ل. کال په وږي) کې پرته له کوم نوي دلیل او علت څخه امر وکړ، چې هغه د ده مزنګ تر څنګ له څو نورو (جنرال غلام جیلاني خان څرخي. جنرال شیرمحمد خان څرخي) فقیر محمد خان او مرزا محمد مهدي خان) سره یو ځای اعدام کړي. د پاچا نظامي سریاور سیدشریف خان د غرغرې د دار لاندې محمد ولي خان ته وویل، چې په خپله دې د غرغرې رسۍ غاړه کې واچوي، محمدولي خان ورته وویل، چې: "نادرخان ته ووایه چې راشي او رسۍ زما غاړه کې واچوي" سیدشریف په وحشیانه توګه ورغی او ورته ویې ویل چې: "زه دغه رسۍ ستا په غاړه کې اچوم" او بیا یې دا کار وکړ. محمد ولي خان بیا وویل: "نادرخان ته ووایه، چې که ته زما په شان زر تنه ووژنې، بیا هم داسې ورځ را روانه ده، چې د افغانستان ملت به ستا اصلي څېره وپېژني او خپل حساب درسره وکړي" سریاور سیدشریف نور وخت ورنه کړ رسۍ یې راکښله او څو بې ادبانه حرکات یې وکړل.

بل محکوم میرزا محمد مهدي خان قزلباش، چې ولیدل، چې محمدولي خان تر ډول ستر شخص مرګ په خپلو سترګو ونه ګورم" خو دده دغه غوښتنه ونه منل شوه، ورپسې د ځنګلونو د رئیس فقیر احمد خان وار را ورسېد. دغه ښایسته او تحصیل کړی ځوان د میرسید قاسم خان د سیاسي کړۍ یو غړی و، کله چې هغه په مسکو کې د افغانستان د سفارت سرکاتب و، د سفیر محمد هاشم خان له خوا ورته سپکاوی شوی و، هغه د تومانچې په ګولۍ د دغه سپکاوي ځواب ورکړ، خو له بده مرغه یو افغاني کوریرخان د فقیر احمدخان او محمدهاشم خان تر منځ ورساوه او ګولۍ په همده ولګېده او محمدهاشم خان ژوندی پاتې شو او په بیړه وتښتید. په دې توګه محمدهاشم خان د افغانستان صدراعظم و او فقیر احمد د هغه په لاس یو بندي و، نو خامخا زندۍ شو. په هغه ورځ چې نادرشاه د محمدولي خان او څو تنو نورو د اعدام فرمان صدارت ته واستاوه، د فقیر احمدنوم د اعدام کېدونکو په لست کې نه و، کله چې محمدهاشم خان دغه لست ولوست او د فرمان د اجرا امر یې وکړ یو ځل بیا یې لست راوغوښت او ویې ویل: "د یوه تن نوم هېر شوی دی" بیا یې په خپل قلم باندې د فقیر احمد خان نوم هم ولیك وایې

Scanned by CamScanner

ستاوه. د ارګ سیاسي بندیانو نقل کاوه کله، چې د ارګ د زندانیانو غږ واورېدل شو، چې ویل یې فقیر احمد دې راشي، نو فقیر احمد پاڅېد خپلې جامې او لونګۍ یې له نظره تېرې کړې او بې پامه په یوې ترخې موسکا سره ووت او د وژل کېدونکو په کتار کې ودرېده. جنرال شیرمحمد خان څرخي په سره سینه او په چوپتیا سره د رسۍ هر کلی وکړ هېڅ خبره یې ونه کړه. دغه سړی په زړورتیا کې نوم درلود.
جنرال غلام جیلاني خان څرخي د پانسي کېدو پر مهال غږ وکړ، چې: "که ووژل شولو پروا نه کوي خو یوائېنۍ غوښتنه مې دا ده، چې اولادونه مې له تحصیل څخه پاتې نه شي" خو دغه غوښتنه د هغه دښمن له لوري چې مردانګي یې نه پېژندله رد شوه او ددغې کورنۍ داستان هم لکه د محمد ولي خان د کورنۍ په شان پای ته ورسېد. د محمد ولي خان کمه اندازه شتمني، چې یو کور، کافي او یو ټوټه ځمکه وه، له امانیه دولت څخه یې ترلاسه کړي وو، ضبط شول. له دې لامله چې د محمدولي خان اولدونه ټول کوچني او صغیران وو، د هغوی پر ځای دده خوریيان (محمدامین خان په برلین کې افغاني پخواني مختار وزیر او محمد سعید خان د ښوونځي زده کوونکی) د ارګ او کوټوالي په زندانونو کې واچول شول او دواړه په زندان کې مړه شول. د محمد ولي خان صغیر اولادونه له ښوونځي څخه وشړل شول او په رسمي توګه له تحصیل څخه بې برخې کړل شول او کورنۍ یې د غره په لمن کې تر ځارنې لاندې ونیول شو. د څرخي ښځه او اولادونه ټول بندیان شول.
د نادرشاه دولت او د کاپیسا او پروکان (کوه دامن او کوهستان) خلك نادرشاه، چې هوډ کړی و، چې په افغانستان کې به (د روڼ اندي او وطنپالو جنګیالو په ګډون یوه ته هم) د خپلې مطلق الغنا نه اداري په ضدیت د فعالیت او یا هم د انګرېزانو له استعماري سیاست سره د مخالفت وخت نه ورکوي. نو ددغو ځواکونو ټکول یې په توره او سیاست په دواړو سره په پام کې نیولي وو، خو د تورې د استعماغل لپاره بهانې ته اړتیا وه، دغه بهانه د سیاست له لارې په لاس ورتله. دده لومړنی سیاسي اقدام د افغانستان په قومونو کې د بې اتفاقۍ اچول او د هېوادوالو تر منځ د دښمنۍ اچول و. نادرشاه دغه سیاست عملي کړ، لکه هغسې یې، چې په کابل باندې د برید پر مهال یو شمېر د پکتیا خلك د کابل غنیمت کولو ته وګومارل او ددغو خلکو د ژوند له ستونزو څخه یې سیاسي استفاده وکړه، یعنې سلطنتي ارګ لوټل او د سقویانو د پلویانو د کورونو لوټل یې مباح وبلل. په کابل باندې تر برلاسه کېدو څخه وروسته یې هم د سلطنتي ارګ خزانه لوټ کړه او د سقویانو د پلویانو په نوم یې یو شمېر کورونه لوټ کړل. حال دا، چې په کابل کې د سقو زوی داسې کار نه و کړی او هغه کورونه، چې د وسلې په لرلو تر شك لاندې وو.
یواځې هماغه کورونه یې پلټل او پرته له وسلې څخه د کورونو په نورو مالونو یې کار نه درلود. کابل ته د سقو د زوی د راتګ په ورځ د هغه یواځې یوه سپاهي یوه هتۍ لوټ کړه، خو سید حسین د هغه غوږ ددغې هتۍ په دیوال پورې میخکوب کړه، له هغه وروسته د چا شتمني لوټ نشوه. چې څه کولای شول، له نورو څخه یې ترلاسه کړل، د بېلګې په توګه سربلند خان ځاځي کابل ته له رارسېدو سره سم د عبدالرحمن خان کوهستاني کور، چې په خپله په هزاره جاتو کې د سقو د زوی په پلویتوب کې وژل شوی و، ونیو کله چې د عبدالرحمن ورته پاچا ته په عرض ورغلل او د کور د بېرته ترلاسه کولو فرمان

Scanned by CamScanner

يې واخيست، نو سربلند خان د فرمان په ځواب کې ورته وليکل، چې: "مونږ او تاسو يو ځای کابل ته را ورسېدلو، اعليحضرت ارګ ولجه کړ او ما د عبدالرحمن خان کور، نو کله چې اعليحضرت ارګ بېرته خپل خاوند ته ورکړي، زه به هم دغه کور د هغه خاوند ته ورکړم." البته دا يو قاطع او پرېکنده ځواب و، دغه کور د تل لپاره د سرفراز خان په واک کې پاتې شو (سربلند خان سره له دې، چې سواد نه درلود، خو دده بيسوادي ددې خنډ نه شوه، چې له پاچا څخه د نايب سالارۍ رتبه وانخلي) پاچا د پکتيا يو شمېر خانانو ته د نظامي رتبو ورکول او د عسکرۍ له خدمت څخه د پکتيا د خلکو مستثنا کول، د تبعيض او تفرقې اچولو سياست پيل کړ. البته پاچا چې لا تر اوسه پورې کوم پياوړې اردو نه وه جوړه کړې، د پکتيا خلکو ته يې خپله اړتيا احساسوله. نو ځکه يې هغوی ته يو شمېر امتيازات ورکړل.

کله چې نادرشاه کابل ونيو او د سقو زوی وتښتيد، د هغه يو شمېر شکمنو ملګرو د سقو زوی تسليم کېدو ته وهڅاوه او د هغه بيا په کابل کې اعدام شو. حکومت د وخت د ترلاسه کولو او د ځان د ټينګولو په خاطر سمدستي يوه عمومي عفو اعلان کړه او د کاپيسا او پروان خلکو سره يې دروغې جوړې لاره غوره کړه، آن دا، چې د سقو د زوی سر منشي مرزا محمد يوسف خان يې د هغو سيمو د حاکم په توګه وټاکه، نو خلکو هم اطاعت وکړ. البته د حکومت دغه زغم د لنډې مودې لپاره و، چې په راتلونکي کې ددغو خلکو ځپل او ټکول په پام کې و. کله، چې حکومت کلك او ځای پر ځای شو، لا ١٣٠٨ل. کال پای ته نه و رسېدلی، چې ددغو ټکولو او ځپلو په خاطر يوه خطرناکه نقشه پيل شوه او حکومت ته يوه بهانه په لاس ورغله هغه داسې وه:

څو کاله مخکې د شور بازار د درمسال يو سکهـ بابا، چې منګل سنګهـ نومېد، په کوه دامن کې يې ځمکه او باغ درلود او خلکو سره يې راشه درشه وه، دغه ځوان سکهـ هوښيار او لږ خبرې يې کولې، ښکلې څېره يې لرله او ګڼه ښايسته ږيره يې وه، چې ډېر ژر يې کوه دامن په خلکو کې اغېزه وکړه. هغه ډېر دوستان او آشنايان پيدا کړل او د غلو له داړې سره يې هم اړيکې پيدا کړې. کله چې د سقو زوی پلازمينه کابل ونيو، بابا منګل سنګهـ په عملي توګه د سياست په ډګر راڅرګند شو. د سقو زوی او د هغه ټولې ډلې دغه بابا سکهـ ته درناوی کاوه او کله به يې چې عکسونه اخيستل بابا به يې د ټولو وزيرانو تر مخې ولاړ و، نور نو بابا هغه پخوانی پرهېزګار سکهـ نه و، هغه د سقو د زوی په ميلمستياوو کې له هغوی سره يو ځای ډوډۍ خوړله، دسقو د زوی د واکمنۍ پر مهال دغه سړي ته د واده هوس ورغی، کله چې په کلکانو کې په آس سپور دناوې کور ته روان و، د سقو افسران به يې په ملګرتيا سره په پلي توګه د هغه رکاب ته روان وو. کله چې د سقو د زوی حکومت روغ رمټ او په امن کې پاتې و، دا يو اخې نه، بلکې بابا منګل سکهـ لکه پخوا په شان کوه دامن ته تګ راتګ کاوه او پخوانيو ملګرو سره يې انډيوالي کلکه وه په هر حال، دغه شکمن او مرموز سړی د نادرشاه د سلطنت په هماغه لومړي کال (١٣٠٨ل. ١٩٢٩م) کې له کابل څخه جبل السراج ته ولاړ او په بېړه يې هلته يوه نوې ډله جوړه کړه. ددغو ماجرا جويانو شمېر تر درې سوو تنو پورې ورسېد، دوی خپل منځ کې يوه کابينه هم جوړه کړه. البته ددې لپاره چې د کاپيسا او پروان د خلکو د غچ اخيستونکي ګام او چټولو لپاره يو څرګند دليل

Scanned by CamScanner

پيدا شي او حکومت دوی وټکوي، یوازې دغې ډلې د وزیرانو جوړېدل کافي نه و. نو دوی وګومارل شول، چې شا و خوا څه بریدونه هم وکړي. خو کله چې د شمالي خلك له دغې خطرناکې پېښې څخه خبر شول، مخکې تر دې، چې مرکزي حکومجت نظامي سوقيات پيل کړي، په خپله پاڅېدل او له دغې ډلې سره يې جګړه پيل کړه. د هغوی یو شمېر يې ووژل. نور یې تېپيان او بنديان شول او پاتې کسان لاړل وتښتېدل، خو بيا هم دولت فرصت له لاسه ورنکړ او کلك نظامي ګامونه يې اوچت کړل.
د اصلاح جريدې د ۱۳۰۸ ل. کال د مرغومي په لسمه ګڼه کې په دې هکله داسې وليکل: "تر اوسه د شمال ۱۹۲ تنه اوسېدونکي بنديان، شپږ زره ټوپك راټول او د کورونو پلټنه لاهم دوام لري. اصلاح د مرغومې په يولسمه ګڼه کې وليکل: اويا تنه د کوهستان اوسېدونکي بنديان او د اوو تنو وژل شويو سرونه کابل ته رارسېدلي دي. همدا رنګه د ۱۳۰۸ کال د کب په ۲۹ ګڼه کې راغلي و، چې درې سوه تنه بنديان او يو شمېر وژل شوي دي او يو شمېر نور تښتېدلي دي او پنځوس تنه په يوه ورځ کې په کابل کې اعدام شول. د دغه وروستي خبر عنوان د دغې جريدې په لومړي مخ کې (اعدام اشرار) و. په داسې حال کې، چې پاچا په کابل کې هره ورځ د شمالي لس څخه تر پنځوس تنه پورې په ګولی ويشتل، چې له تحقيق او محاکمې پرته د دغو ډله ييزو وژنو شمېر تر ۷۰۰ تنو پورې ورسېد. دا، چې منګل سنګه په دې لړ کې له چا څخه الهام اخيستی و (د افغانستان له مرکزي حکومت څخه او که له کوم بهرني استعماري دولت څخه؟) د استدلال له مخې نشو ويلای، خو په خپله همدا مذهبي بابا د دغې ستونزې ځواب راکوي (ښاغلی منګل سنګه د همدې کتاب د ليکلو تر وخت پورې ژوندی و، هوسا او په ډاډه توګه د کابل په شمالي کې ژوند کوي.)
دولت د کاپيسا او پروان د بيا سمبالولو په نوم، يوازې په نظامي سوقياتو بسنه ونه کړه، بلکې د کابل د والي مرزا محمديعقوب خان تر مشرۍ او د عبدالوکيل خان نايب سالار نورستاني تر قوماندې لاندې يې يو پلاوی هلته واستاوه. دغه سړي په خلکو باندې کلك فشار راوړ او هلته يې د وسلو او پيسو په ټولو پيل وکړ. کله چې هيئت په عملي توګه دا ثابته کړه، چې د کوه دامنه او کوهستان د خلکو د عمومي عفوې په ه کله د پاچا فرمان يوازې يوه تشه خبره وه، نو د ۱۳۰۸ل. کال په ژمي کې بېرته کابل ته راستون شو. همدا مهال حکومت له ۱۲۵ تنو څخه يوه عريضه ترلاسه کړه، چې ګواکې محمدولي خان د پاچا امان الله وکيل په سقوي اړ-دوړ کې لاس درلود. په دې عريضه کوونکي کې سقويانو لکه د بلخ سقوي والي عطا محمد خان کوهستاني، د قطغن سقوي والي ميربابا صاحب چهاريکاري، د سقوي د کورنيو چارو د وزير ورور خواجه ميرعلم خان او داسې نور هم وو. نو حکومت محمدولي خان ونيو بندي يې کړ او په پای کې يې اعدام کړ.
د ۱۹۳۰م (۱۳۰۹ل.) کال په اوړي کې د کلکان خلکو د حکومت د نظامي فشار په وړاندې پاڅون وکړ او د شپږ سوه تنو شا و خوا خلکو د کوه دامن په سيمه ييز حکومت او عسکرو باندې بريد وکړ. له کابل څخه سيد عبدالله شاه جي او نايب سالار عبدالوکيل خان يو ټولی عسکر سوق او د هغې جګړې په ترڅ کې، چې پېښه شوه، نايب سالار ووژل شو او شاه جي وتښتيد. د نادرشاه په امر په دهمزنګ کې يو

یادګاري څلی د عبدالوکیل خان په نوم جوړ شو، لکه بهرنیانو سره، چې په جګړه کې شهید وي دي پسې وروسته جنرال محمد غوث خان له نوي ځواك سره راورسېد. د لارې په اوږدو کې یې د کورنیو چارو وزیر محمدګل خان مومند د شمالي د تنظیمیه رئیس په توګه وټاکل شو (د ۱۳۰۹ل. کال زمري او د امیر عبدالرحمن خان د مهال په شان یې حشري پوځ په تیره بیا له پکتیا څخه راوست. دغه پوځ د شاه جي له خوا په پکتیا کې تنظیم شوی و او شمال ته واستول شول. د اصلاح جریدې د ۱۳۰۹ کال د زمري د میاشتې په ګڼه کې ولیکل، چې د احمدزیو، کړوخېلو، ځاځیو، منګلو طوطاخېلو، وزیر، وردګ میدان او تګاو څخه پېنځه ویشت زره وسله وال کسان له دولتي پوځیانو سره دلته میشت شول آیا په پروان او کاپیسا ولایت کې د محمدګل خان او ددې ځواکونو دنده څه وه؟ او آیا الله نواز خان هندوستاني د پاچا یاور او بهرنیو چارو وزیر فیض محمدخان زکریا، چې شخصاً په خپله له کابل څخه مراد بېګ کلا ته د محمدګل خان مومند مرکز ته ورغلي وو او بېرته راغلل آیا دوی محمدګل خان مومند ته کوم پټ شفاهي هدایتونه ورکول؟ ددغو پوښتنو ځواب په دغو ولایتونو کې د محمدګل خان مومند کړه وړه څرګندوي. د کوه دامن د داود زیو او د کلکان د خلکو پاڅون د ۱۳۰۹ل. کال په چنګاښ کې پیل شو. محمدګل خان د زمري په دوهمه ددغه ولایت رئیس شو. هغه د ۲۵ زره حشري ځواك او یوه دولتي توپچي منظم پوځ په مرسته په پروان او کاپیسا کې داسې یو شمېر عملیات ترسره کړل، چې په یوه بهرني هېواد کې هم ورته اجازه نشته. محمدګل خان په دغه ولایت کې ځان د یوه سوبمن مارشال په توګه څرګند او په ډېر کبر او له خلکو سره په پردۍ بڼه مخامخ او یو وحشیانه او له دښمنۍ ډك چلند یې وکړ. هغه نظامي او حشري ځواکونه وګومارل، چې کورونه ونړوي، دیوالونه او باغونه ویجاړ او کلاوې وسوځوي او خپله یې یاغي شوي پاڅون کوونکي او د دولت مطیع خلك سپك او ووهل. هغه د پاڅون کوونکو ځان او د مطیع خلکو مال غوښت. انکار کوونکي به یې په لرګیو وهل او ښکنځلې به یې ورته کولې او آن دا، چې په دې باندې یې ویرول، چې عام مجلس ته یې ښځې راغواړي هغه کورونو کې به، چې له تلاشۍ وروسته وسله او پیسې په لاس نه راتلې ښځو ته به یې ګواش کاوه، چې په تندي یې ستنې ټومبي. په دې ډول سره د ۱۳۰۹ل. کار تر ژمي پورې (د اصلاح د دولتي ورځپاڼې د سلواغې د ۲۸ مې نېټې له خبر سره سم) محمدګل خان د کاپیسا او پروان له خلکو څخه ۲۳۷۸ ټوپك، ۱۷ تومانچې او ۳۹۳۸۴ داني سره زر او ۱۴۹۲۰۲ د سپینو زرو سکې راوکښلې او کابل ته یې وسپارلې. البته څه، چې نظامي او حشري ځواکونو ځان ته اخیستي، هغه په دې حساب کې نه دي راغلي. دا یوازې نه، بلکې محمدګل خان (د اصلاح د مخکنۍ ګڼې د خبر له مخې) پېنځلس تنه په دغه ولایت کې په خپل شخصي حکم اعدام کړل- ۲۱۷ تنه یې زولانه او کابل ته یې واستول ۳۱۰۰ تنه یې شاته کارته وګومارل او په هغو باندې یې ددغه ولایت سړکونه او د خاواك تر غاښې پورې یې د پنجشیر سړك و لارې ورباندې جوړې کړې او له هغو څخه یې اووه کنډکه عسکر استخدام او نورو سیمو ته یې واستول همدا رنګه محمدګل خان (د اصلاح د اخبار د ۱۳۰۹ل. کال د کب ۲۱ مې ګڼې د خبر له مخې) په خلکو باندې عسکري تاڼې جوړې کړې او هلته یې یوه منظمه فرقه عسکر و ګومارل. د همدغې ګڼې د خبر له

Scanned by CamScanner

مخې محمدګل خان د چاریکار د ښار یوه برخه چې د دغه ولایت اداري او سوداګریز مرکز و خراب کړ. هغه د کوه دامن مرکز سرای خواجه ته اور واچاوه، حال دا چې له خلکو څخه یې ۲۰۰ تنه برمته کړي وو او کابل ته یې استولي و. د دغه ولایت په هره برخه کې یې څو څو کوره د پکتیا خلك جبراً ځای پر ځای کړل او ډېرې ښې ځمکې یې ورکړې تر څو د دغو دوو ولایتونو تر منځ د روغې او پخلاینې مخه ونیسي. د محمدګل خان د غه چلند د سولې د ځانګړي حالت لپاره و، خو د جنګ هغسې، چې د اصلاح اخبار په ۱۳۰۹ کال کې لیکلي، نه یوازې دا چې د تښتېدلو او فراري پاڅون کوونکو کورنه یې نړول، بلکې آباد کلي یې هم سوځول. د بېلګې په توګه د کلکان څلور کلي یې وسوځول او کلاوې یې په توپ وویشتې. د هندوستان وروستیو جرایدو (مثلاً د همت جریدې) په ډېره خوښۍ سره د کلکان د څلورو کلیو سوځول ذکر کړي وو.

د اصلاح جریدې ولیکل، چې د عمراخان په نوم یو تن اشرار د چاریکار د خواجه سیاران د غره په جګړه کې ووژل شو ملك سلطان محمدخان دغه مړی خښ کړی و. سلطان محمد په همدې ګناه، چې د حکومت د یوه یاغي مړی یې خښ کړی و پلټل شو او کور ته یې اور واچول شو او د عمراخان مړی له قبر څخه را وایستل شو او رئیس تنظیمیه ته یې راوړ. د یاغیانو د سرونو پرې کول او د کابل دربار ته د هغو لېږل (لکه د بني امیه د خلفاوو د مهال په شان) له همدې وخت څخه معمول شول. محمد ګل خان* دا وټاکله، چې د شمالي د فراریانو د هر یوه تن د وژلو یا نیوونکو لپاره به زر افغانۍ جایزه ورکول کېږي.

له دې ټولو سره په کوه دامن او کوهستان کې د محمدګل خان چلند هماغه پایلې لرلې، چې حکومت غوښتلې، یعنې لومړی د دغه ولایت خلك، چې دغه ولایت د افغانستان د نولسمې پېړۍ په تاریخ کې د بریتانیا د امپراتورۍ پر وړاندې د هېواد د خپلواکۍ د دفاع یوه زانګو او له ویاړه ډك ولایت و، وټکول، بیا یې د افغانستان د خلکو تر منځ نفاق واچاوه، چې د دښمن یوازینۍ موخه وه، یعنې د پکتیا او پروان خلکو په ځان باندې د ظلمونه د پکتیا د حشري ځواك له لاسه وبلل او د هغوی په وړاندې یې کینه زړه کې واچوله. په تېره بیا، چې محمدګل خان ځان د هېواد د پښتنو د استازي په توګه ځان وښود، دریم دا، چې د افغانستان نوي جوړ شوي دولت د افغانستان د زیات شمېر خلکو له دښمنۍ سره مخامخ شو او د استعماري سیاست په وړاندې یوازې پاتې شو، نو ځکه له استعمار سره هر ډول سازش ته تیار شو. باید دا ومنو، چې لوی استعماري دولتونه په خپلو پام وړ او خپلواکو کوچنیو هېوادونو کې نه غواړي، چې په دې هېوادو کې یو صادق، ملي پوه او پیاوړی دولت جوړ شي، دا ځکه چې دغه ډول دولتونه د خپلو هېوادو په ګټه کار کوي، نه د بهرني دولت په ګټه حال دا، چې له یوه جاهل، ضعیف او خاین دولت څخه ډېر ښه ډول باندې غلطه استفاده کولای شي. په دې توګه یو استعماري دولت او هغه هم انګرېز څرنګه کولای شول، چې په یوه (دوست هېواد) د تل لپاره باور وکړي، خو هغه وخت یې دغه باور ورباندې کولای شو، چې هغه تل ناتوانه او د کور دننه بوخت وساتي او د هغه له ضعف او ویرې څخه په خپله ګټه استفاده وکړي. له همدې لامله زاړه او نوي استعمار په

ختیزو هېوادو کې ملي قوتونه ټکول، خو په ډېر لږ شمېر وختونو کې او هغه هم د خپلو سیالو هېوادو په وړاندې یې هغه نه دي ټکولي.

په هر حال. آیا محمدګل خان مومند په دغه نقش کې، چې ویې لوباوه او یو ولایت ته یې ماتې ورکړه، کله یې وویل، چې د بل چا له خوا استعمال شو؟ یا په خپله د دغې نقشې په جوړولو کې ګډ و؟ دوا ړو پوښتنو ته کوم پریکنده ځواب نشته، خو دومره یو قومي متعصب سړی و، چې زیات ژبني او نژادي تعصب یې درلود. په کورني سیاست کې هم یو ارتجاعي سړی و، چې له انقلابي بدلونونو سره یې ضدیت درلود. له دې لامله، چې زوی یې نه درلود، نو خپل وررور ته یې د زوی په شان روزنه ورکړه. هغه د زده کړو لپاره د هند د دیوبند مدرستې ته واستاوه، چې هلته ورڅخه یو استعماري ملا جوړ شي محمدګل خان ډېر زړور ګانه خود شجاع خلکو ترحم او زغم یې نه درلود حال دا، چې شجاع او زړور خلك چې څومره د تیري کوونکو او پیاورو خلکو په وړاندې مقاومت کوي، د خوارانو په وړاندې هومره بخښونکی او کریم وي او خپل لاس لاندې خلکو باندې ظلم او تیری نه کوي. هو دا ډارن او بزدل خلك وي، چې له ډېرې ویرې لکه د مار په شان هر څه چې مخامخ شي چیچل کوي او عفو او اغماض نه پېژني. کله چې محمدګل خان په کوه دامن او کاپیسا کې خپله دنده ترسره کړه، کابل ته راستون او پاچا ته ورغی. د اصلاح دولتي جریده پاچا ته د محمدګل خان د شفاهي عرض په هکله داسې لیکلي و: "... د شمالي په ټولو سیمو کې د کوه دامن د اغتشاشي سیمې په ګډون بشپړ امن او آرامي راغلې ده... د شمالي د سمت خلکو د حکومت د دغو مسالمت کارانه (سوله خوښوونکو) عملیاتو، په تېره بیا د اعلیحضرت د رحم څخه ډاډ ښودلی او بشپړ قناعت یې ښودلئ دی، چې اعلیحضرت نه یوازې دا، چې د افغانستان عادل واکمن دی، پلکې د ټول ملت لپاره د یو مهربان او بزرګوار پلار حیثیت هم لري..."

محمدګل خان دغه وینا په داسې وخت کې کړې وه، چې په کابل کې د کوه دامن او کوهستان سلګونه بندیان بندي وو او په لسګونو نور یو په بل پسې د پاچا په امر اعدام کېدل. البته د دغو اعدامونو په هکله دولتي جرایدو احتیاط کاوه او لږ خبرې یې کولې. د بېلګې په توګه د اصلاح ورځپاڼې د ۱۳۰۸ل کال د کب په خپله یوه ګڼه کې ولیکل، چې: د شمالي ۵۱ تنه اوسېدونکي په یوه ورځ کې په کابل کې اعدام شول. د ۱۳۰۹ ل کال په چنګاښ کې خبر ورکړل شو، چې د شمالي ۱۷ تنه اوسېدونکي د کابل په چمن کې اعدام شول. د زمري د میاشتې په ګڼه کې یې ولیکل، چې یو شمېر(؟) د شمالي اوسېدونکي اعدام شول او بیا یې ولیکل: "درې څو تنه بدې اخیستونکي، دوه تنه شراب څښونکي، څو تنه ملي خاینان او د شمالي یو شمېر اشرار، چې خلکو دهغو د اعدام غوښتنه کوله، تعزیر (اعدام) شول" (و. ګ. د اصلاح د جریدې د ۱۳۰۹ل. کال د زمري د میاشتې (دویمې نېټې ګڼه لومړی مخ) د اصلاح جریدې د و وړې په میاشت کې خبر خپور کړ، چې له دغو خلکو څخه شپږ تنه او ورپسې څلور تنه اعدام شول (د ۱۳۰۹ل. کال د اصلاح ورځپاڼې ۲ - ۷ ګڼې).

له دې کبله چې د شمالي د خلکو په برخه کې د حکومت دغه قساوت د ټولو خلکو کرکه راپاروله، نو تالي څټي ملایانو د دولت مرستې ته ودانګل او د مذهبي موعظې په خپرولو یې له یوې خوا د شمالي

Scanned by CamScanner

اوسېدونکي د سزا ور وبلل او لکه د کفارو په شان يې د عقوبت مستحق وګڼل. له بلې خوا يې غوښتل، چې په خپله د شمالي خلك قانع کړي، چې د حکومت دغه ظلمونه د خپل عمل پایله وبولي او د خدای له لوري يې مقرره وبولي. د بېلګې په توګه د اصلاح د دولتي ورځپاڼې د ۱۳۱۲ل. کال د کب د لومړۍ نېټې ۱۲۵ مه ګڼه کې په څرګند ډول لیکل شوي وو، چې: "زمونږ ديني شدت او ملایمت په واقعیت کې په خپله د رعیت او لاس لاندې خلکو د عمل او فعل پایله ده..." د رعیت، د کلمې له استعمال څخه باید دلته تعجب پیدا نه شي، دا ځکه چې په افغانستان کې دغه نوي دولت ځان سره کرکجن سوغاتونه راوړي وو، چې په هغو کې يو يې د (رعایا او برایای شاهانه) کلمات و، چې د (خلکو او ملت) د کلماتو پر ځای په کار تلل.

## د نادرشاه دولت او د شمال ولایتونو خلک

حکومت، چې غوښتل په خپل لاس د هېواد او د ولایاتو د خلکو تر منځ دښمني او اجباري تفرقې تخم وکري، ډېر ژر يې داسې بهانه ومونده، چې د هېواد شمالي او جنوبي ولایتونه یو بل سره واچوي. دغه بهانه يې د یوه مهاجر له ماجرا جویي څخه ترلاسه کړه، هغه داسې وه، چې: ابراهیم بیك لقي (لقي له جیحون څخه پورې غاړه د ترکمنانو د یوې قبیلې نوم دی) چې د شوروي اتحاد یو مخالف او د انور پاشا یو ملګری و، د بخارا د دولت له پرځېدو څخه وروسته افغانستان ته راغلی و (۱۹۲۰م. کې) ابراهیم په قطغن کې په مرموزه توګه فعالیتونه پیل کړل او وروسته بیا میمنې ته ولاړ او د ترکمنانو له روحاني مشر (خلیفه قزل ایاق) سره يې وکتل. د دوی تر منځ د تفاهم په پایله کې د هېواد په شمال کې په تېره بیا دابراهیم بیګ لوټ او تالانونو چې یو نامتو (باسمه چي) و- د ۱۹۳۰م. کال څخه وروسته د شوروي د غوسې وړ وګرځېد. آن دا، چې د خبرتیاوو دورکولو برسېره د شوروي سرتیري له جیحون څخه پورې وتل او ابراهیم بیګ سره يې مقابله پیل کړه. دا مهال د دواړو دولتونو تر منځ اړیکې ډېرې خړې پړې شوې په همدې کال کې. همدا مهال په تاشکند کې افغاني جنرل قونسل میر هاشم خان کله، چې له مشهد څخه تاشکند ته بېرته ستون شوی و په لاره کې د شوروي له پولو څخه شل میله تیر شوی و، چې د خپل روسي موټروان په لاس د یو څنګ په ګوزارونو ووژل شو (د نوامبر ۱۲مه شپه).

ابراهیم د ۷۰۰ شا و خوا وسله والو لپاره له پنځه ډزو او یوولس ډزو ټوپکونو سره لرل. په خپله یو پیاوړی، غنم رنګه او د ښایسته خېرې لرونکې او د منځنۍ ونې لرونکی سړی و. نوي يې په زیړه کې سپین لګېدلي وو، لږ خبرې يې کولې په خپله غوره کړې لاره کې ثبات او عناد درلود. کله چې د افغانستان حکومت ظاهراً له شوروي سره د سؤ تفاهم د مخنیوي لپاره د ابراهیم بیګ د ماجرا جویي غلي کول پیل کړل، نو ابراهیم بیګ د افغانستان د دولت په ضد هم د مخالفت بیرغ اوچت کړ. هغه د سقو د زوی شل تنه مامورین، چې د نادرشاه له پاچا کېدو څخه وروسته په میمنه کې بندیان شوي وو، په زور له بند څخه خلاص کړل په هغو کې محمدعمر خان، محمدسرور خان، قوماندان پاینده محمدخان او نورو. د میمنې سیمه ییز حاکم محمد عمرخان څرخي له محمد محسن خان او څو تنو نورو سره ورته ټینګ نه شول، نو مزار ته راوتښتېدل.

Scanned by CamScanner

د بلخ تنظیمیه رئیس (د کابل والي مرزا محمد یعقوب خان) د مرزا محمدقاسم خان مزاري په واسطه په بیره له خلیفه قزل اياق سره خبرې اترې پیل کړې (نوموړي د امانیه نوي رژیم یو کلك مخالف و) او هغه په دې بریالی شو، چې ابراهیم بیګ له تنظیمیه رئیس سره د خبرو اترو لپاره مزار ښار ته راوبولي او هغه ومنله. په دې توګه نوموړي له خپلو ۷۰۰ وسله والو سپرو سره د وري د میاشتې په لومړۍ شپه بلخ ته راغی. حکومت د تخته پل په سیمه کې د هغه هر کلي ته فرقه مشر فتح محمد خان فرقه مشر مهراب علي خان هزاره، فرقه مشر عطا محمد خان توخي (د ابراهیم بیګ کوربه) او غونډ مشر پیرمحمد ور واستول. دغه هر کلي د خلکو په وړاندې د ابراهیم بیګ دریغ لوړ کړ. د مازیګر د لمانځه پر مهال د مزار شریف په لوري روان شو، پینځو سو تنو وسله والو سپرو د هغه ساتنه کوله. د حکومت افسران هغه پسې په آسونو تلل، ۲۵۰ تنو نورو د ابراهیم بیګ شاته او دوو خواوو ته له لرې څخه هغه ساتنه کوله. عمومي قوماندان انم بیګ و. ابراهیم بیګ په دغه حرکت او کتنهخ کې یوه خبره هم ونه کړه، خو یواځې د هوا په هکله یې یو دوه ټکي وویل. د مزار ښار ته نږدې بیګ بې له دې، چې ښار ته ننوځي د شمال له اړخه مخ په ختیځ روان شو، دا ځکه چې هلته د فرقه مشر عطامحمد خان پراخه بڼ چې د تاشقرغان دروازې سره نږدې و، د هغه د اورسېدلو لپاره ټاکل شوی و. په دغه لوی بڼ کې ونې وې او په منځ کې یې یوه پراخه چوتره وه، چې په زړه پنجه چنارونو را ایساره وه. د چوترې په سر باندې د غونډې لپاره یو څېره جوړه شوې وه او د چوترې په څنډه کې ابراهیم بیګ ته یوه خیمه درول شوې وه، نورې خیمې د چوترې شا و خوا ته وې. دغه بڼ یوه دروازه لرله، چې یو اړخ ته یې پخلنځی و. د ابراهیم بیګ سپرو د باغ ټولې څلور خواوې ونیولې، کله چې د جمع لمونځ کېده، انم بیګ پرته له دې، چې لمانځه ته پاڅېږي، د ابراهیم بیګ ساتنه یې کوله. ابراهیم بیګ په خپله امامت په غاړه اخیستی و، دا مهال فرقه مشر محمد کاظم خان د تنظیمیه رئیس له خوا د ښه راغلاست پیغام راوړ او سبا ته یې ورسره د لیدو کتو وخت وټاکه. ابراهیم بیګ مننه وکړه او وې ویل: "ځینې وخت د دوستانو او ورونو تر منځ هم تیروتنه او شخړه راځي، خو په پای کې دوستي نوره هم کلکوي". دې پسې وروسته ډېره ښه ډوډۍ راوړل شوه او کیسي څراغونه ولګول شول، دوی لا په ډوډۍ نه وو پیل کړي، چې د جګړې د ډ ګر په شان د ډزو غږونه واورېدل شول. ددې په وړندې د ترکمني سپرو د برید غږونه اوچت شول او د بڼ ټوله برخو کې شور زوږ شو. د غونډې خلك شکمن شول. ابراهیم بیګ او انم بیګ یو بل ته به معناداره توګه وکتل. فرقه مشر عطا محمد خان پاڅید ویې ویل:

"نن د نوروز شپه ده، د روضې مبارکې د جنډې هسکول په ډزو سره بدرګه شول، چې غږ یې تر دې ځایه راځي. کاشکې ستومانه نه وای او دغه جشن کې مو ګډون کړی وای" ابراهیم وویل: "مونږ ته دغه نېټه نه وه څرګنده، خیر سبا به مونږ او تاسې دغه جشن وګورو. بیا یې د حکومت افسران رخصت کړل او د بڼ دروازه وتړل شوه، خو ابراهیم بیګ په حکومت باندې خپل باور له لاسه ورکړی و، سبا مهال د وخته، چې د مزار خلکو او پوځ سترګې له خوب څخه نه وې بېرته کړې د ابراهیم بیګ د سپو داړې، چې د زړو کالو مخکې سلجوقیانو په شان ټول مجرد او وسله تر غاړې و او هېڅ کوم بار او بل څه ورسره نه وو، یو

ناڅاپه نه یواځې د بڼ له یواځې دروازې څخه په وتلو شول، بلکې له شا و خوا د بڼ د ټیټو دیوالونو څخه هم د آسونو په الوځولو او لکه د باد په شان وتښتیدل. د مزار د تنظیمیه رئیس په بې خبرۍ کې د تیلیفون غږ واوریدو او تیلیفون یې جګ کړ. په ظاهره سره دغه غږ له سیاه ګرد څخه راته، چې د ابراهیم بیګ غږ و. ابراهیم په لنډه ډول رئیس ته وویل: "زه نه شم کولای په تاسې باور وکړم او خبرې درسره وکړم، نو ځکه خدای پامان" مرزا محمد یعقوب خان ډیر خواشینی شو، چې ښکار ورڅخه لوبې ته نږدې ورڅخه وتښتید. په هر حال له دې وروسته له میمنې څخه تر قطغن پورې یوه پراخه ساحه د ابراهیم بیګ او دهغه د سپرو د ګرځیدو را ګرځیدو په واک کې وه، ابراهیم بیا له میمنې څخه قطغن ته او بېرته له قطغن څخه میمنې ته ولاړ، خو د اوسیدو ډیر وخت یې په قطغن کې و. ابراهیم بیګ له ۱۹۲۹ څخه تر ۱۹۳۰م. کال پورې په تمرد کې ژوند وکړ او لکه د یو الوتونکي په شان د قفس او لومې تر منځ ګیر پاتې شوی و، خو سره له دې یوه ته هم تسلیم نه شو. سره له دې، چې له دولت سره د جګړې وس یې نه درلود. ابراهیم به له خپلو ګرندیو سپرو سره یو ناڅاپي د قطغن د ولایت په کلیو کې راخرګند شو انو له بې وسلو خلکو څخه به یې خوراك او د آسونو بوس ترلاسه کول او بیا به بل ځای ته تلو. که کوم کلي به مقاومت وکړ، دغه مقاومت به یې ځاپه. که چېرې به دولتي ځواکونو او پلټونکو سره مخامخ شو، په زړورتیا سره به یې جګړه کوله او ځان به وایست. البته دولتي منظم ځواکونو هغه کلابند کولای او نیولای نه شو. نو ځکه دولت له مرکز څخه حربیه وزیر شاه محمود خان له یوه ګڼ شمیر پلاوي سره یو ځای ددغې پېښې د پای ته رسولو په خاطر واستاوه (د ۱۳۰۹ل. کال لیندۍ). البته وزیر سره، چې کوم ځواکونه وو، د واکمنې کورنۍ د منل شویو اصولو له مخې د حشري وسله لرونکو له ډلو څخه جوړ و. په تېره بیا د پکتیا خلك پکې ډیر وو لکه وزیر، مسعود، ځدران او نور. دوی سره یو ځای منظم پوځ هم و (تر دې مهال پورې دولت یو څلوېښت زریز، منظم اردو او یو کوچنی خو ډیر اغېزمن هوایي ځواك جوړ کړی و، چې وروسته بیا نور هم زیات او پیاوړی شو) شاه محمود خان د خان آباد په ښار کې مرکز جوړ کړ او یوه مطلب العنایه نظامي دستګاه یې په کار واچوله. دغې دستګاه د قطغن ټول پراخ ولایت ته د دښمن په سترګه کتل او عملاً یې یو بیساري وحشت پیل کړ. حال دا، چې تمرد یواځې ابراهیم بیګ کړی و، چې یوه کوچنۍ ۷۰۰ کسیزه ډله ورسره وه.

په هر حال شاه محمود خان، چې د ۱۳۰۹ل. کال له لیندۍ څخه د ۱۳۱۰ل. کال تر زمرې پورې اته میاشتې په دغه ولایت کې و، د پاچا د ورور او دافغانستان د وسله وال پوځ د سپه سالار په توګه یې (په داسې حال کې، چې لکه د خپل بل ورور مارشال شاولیخان په شان یې آن د نظامي فن یو کورس هم نه و لوستی) داسې دستګاه جوړه کړه، چې د افغانستان له مرکزي سلطنت سره یې ډیر توپیر نه و، دغې دستګاه پرته له تحقیق او محاکمې څخه د خان آباد ډك کړل، چې په بندیانو کې ښځې او نر ګډ وو. د قین او پانې متروکو وهلو او کوتك وهلو کړاو ورکول پیل شول. ډله یزې وژنې وشوې خلك اعدام شول او د حشریانو او دربار ټول لګښتونه په خلکو باندې حواله شول. د شکایت کوونکو په عریضو کې د (در څخه ځار شم...) (فدایت شوم) سریك په جبري توګه معمول شو. بندي کړل شوې ښځې د جمشید خان په

سرای کې د ساتونکو تر تیري او سپکاوي لاندې راغلې. زنځیر او زولانه، چې د امان الله خان پر مهال په قانوني توګه له منځه وړل شوي وو (یواځې قاتل به له یوې پښې زولانه کېده) یو ځل بیا د بندیانو په پښو. لاسونو او غاړه کې واچول شول. دغه ټول کړاوونه د قطغن په وګړو یعنې د دولت په اتباعو ترسره کېدل، چې د ابراهیم بېګ په تور نیول شوي وو، نه په کومه داسې ګناه، چې دوی په خپله کړې وي، دا ځکه چې ابراهیم بېګ به لکه د تندر په شان په نیمه شپه کې په یوه کلي ورغی او په زور به یې خوراك او د آسونو بوس ترلاسه کول او وروسته تر لږ دمې به بل ځای ته ته. د یوه کلي خلك نه توانېدل، چې په تش لاس ددې ډول غلا مخه ونیسي، چې د شاه محمود خان په نزد همدا نه بخښونکې ګناه وه، حال دا، چې په پیل کې آن حشري او منظم پوځ، چې د شاه محمود خان تر قوماندې لاندې و، ددغو ډول بریدونو مخه نشوه نیولای. له دې لامله چې دده حشري ځواکونه یواځې دیوه ثابت دښمن په وړاندې په پلیو، غرنیو او د شپې د بریدونو په جګړو کې تکړه وو، نه په ګوریلایي جګړه کې، چې هغه هم په ډېره پراخه دښته کې وي او دښمن ځای پر ځای نه وي. ددې تر څنګ همداسې هم د دولت سپور او پلي نظام هم د متمردینو (سرکښو) ګرځنده سیرو پسې نشو رسېدلای، نو شاه محمود خان د خپلو ځواکونو؟؟؟ ناتوانۍ د بېګناه خلکو په پلټنه، شکنجه، وژلو او تړلو جبران کوله.

ابراهیم بېګ په میاشتو د خرپ او ترپ په بریدونو کې په دې باندې پوه شو، چې په مخامخ جګړه کې بری نشي موندلای او له ترپ و خرپ جګړو څخه څه په لاس نه ورځي. په تېره بیا دده ځواکونه ورځ په ورځ کمېدل، نو اړ شو، چې له یوې سیمې څخه بلې ته په شا تګ وکړي او په پای کې د قطغن ساحه ده ته تنګه شوه او د ځواکونو د نوي کولو په تمه تر میمنې پورې وتښتید، البته د دولت او خلکو اټکلونو میمنه په داسې یوه لومه واړوله، چې په هغې کې ابراهیم بېګ او د هغه ملګري نیول کېدای شول. ابراهیم له ناچارۍ ورځې د ۱۹۳۰م. کال په اوړي کې د قطغن پولو ته ستون شو او په پای کې په ۱۹۳۱م. کې له جیحون څخه پورې وت او د شوروي پولو ته ننوت، حال دا چې شوروي لا د مخه هغه تر څارنې لاندې نیولی و، دې پسې وروسته د تاس خبرې آژانس خبر ورکړ، چې د ابراهیم بېګ ډله د جون پر ۲۲مه نېټه له منځه ولاړه. مرستیالان یې بندي شول او په خپله د جون په ۲۳مه بندي او تاشکند ته واستول شو. په دې توګه د ابراهیم بېګ اړ و دوړ، چې د ۱۹۳۰م. په جون کې پیل شوی و، د وروسته تر ۱۴ میاشتو د ۱۹۳۱م کال په جولایي کې پای ته ورسېد او شاه محمود په خان آباد کې د بریالیتوب په نوم یو جشن جوړ کړ، خو خبره دومره آسانه پای ته ونه رسېده، د ابراهیم بېګ تمرد د شمالي ولایتونو د خلکو د ځپل کېدو او د هندوکش د شمالي او جنوبي ولایتونو تر منځ د دښمنۍ لامل شوه. شاه محمود خان خپل ټول ځپونکي فعالیتونه په دغو ولایتونو کې د پکتیا د ولایت د پښتنو حشري ځواکونو په لاس او د (افغان و غیر افغان) په نوم ترسره کړل، چې دا د ملت د نفاق یو ډېر خطرناك زړی و، چې د هېواد په شمالي ولایتونو کې د هغه په لاس وکرل شو او وروسته بیا محمد ګل خان مومند هغه خړوب کړ.

Scanned by CamScanner

شاه محمود خان به د ابراهیم د ملاتړ په تور نیول شوي نورن فین او قاني لاندې نیول او اعتراف ته به یې اړ کول. مستوري ښځې به یې د خان آباد د جمشید خان د سرای په محبس کې د پردیو ساتونکو تر نظر لاندې ساتلې او د هغوی په ناموس باندې د تیري مخه یې نه نیوله. بندیان به یې له رسیدو سره سم په ګولیو ویشتل آن دا، چې یوه ورځ چې په آزاده فضا کې د لمانځه لپاره په جاینماز باندې ناست و او ۳۱ تنه بندیان یې راوستل، په ګوته یې نغوته وکړه، چې بندیان دې قتل ګاه ته بوځي، هغوی یې بوتلل او ډېر ژر هلته په ګولیو وویشتل شول. د شاه محمود خان د قلم مخصوص مدیر مرزا محمدیوسف خان، چې تل به ورسره وویل، چې په خان آباد کې د اعدام شویو شمېر له ۷۰۰ څخه زیات و.

شاه محمود خان زر کورني، ترکمن د هغوی له ښځو بوډاګانو او ماشومانو سره یو ځای بندیان او په پلي ډول یې د ځدراڼو د حشري ځواك د یوه سپور کنډك تر څارنې لاندې کابل ته راوستل. امر یې کړی و چې هره ورځ به دوه پړاوه لار وهي. له دې لامله، چې هوا توده وه او لاره هم لس میله وه، نو بوډا او ناروغه بندیانو په لومړۍ ورځ یوازې یو پړاو مزل وکړ. ساتونکي افسر له لومړي پړاو (شوراب) څخه د شپې له خوا بېرته په آس باندې ولاړ او شاه محمود خان ته یې راپور ورکړ، چې بندیان نشي کولای، چې په پلي مزل سره له یو پړاو څخه زیات مزل په یوه ورځ کې وکړي. شاه محمود خان امر وکړ، چې د دوه پړاوه مزل په یوه ورځ کې حتمي ده که کوم بندي له پښو پاتې شو، باید هماغلته ووژل شي. په بله ورځ باندې ساتونکي افسر دغه امر ټولو ته واوروه او هغوی ته یې د تګ امر وکړ، لا دوهم پړاو (آق چشمه) پورې نه وو رسېدلي، چې درې تنه بوډا او ناروغ بندیان له پښو ولویدل، ساتونکو سپرو ددغې پېښې راپور ساتونکي افسر ته ورساوه. افسر د ناچارۍ له مخې د شاه محمود خان امر تکرار کړ، ساتونکو دربواړه د ټوپك په ګولیو د ژوند له کړاو څخه وژغورل. البته شاه محمود خان ددغه ډول حکمونو په صادرولو کې د تاریخ یوازینی سړی نه و، بلکې څو پېړۍ د مخه چنګیزخان چې سمرقند باندې برید وکړ، همداسې یو حکم یې خپلو لښکریانو ته کړی و او ویلي یې وو، چې سیمه ییز حشري ځواکونه دې د خپلو سمرقندي هېوادوالو د وژلو لپاره د مغلو د سپرو پوځونه په مخه کې په پښو مزل کوي (د ۱۳۷ مخ اخري کرښه ورانه شوې ده) حکمونو تر منځ توپیر دادی، چې چنګیزخان په دیارلسمه پېړۍ کې دا ډول حکم صادر کړی و، چې په یوه فتح شوي پردي ملت باندې یې عملي کړ، خو شاه محمود خان په شلمه پېړۍ کې د چنګیزخان مړ شوی دود بیا راژوندی کړ، خو هغه یې په هغو خلکو عملي کړ، چې ده خپل ځان د هغو هېوادوال ګاڼه.

په هر حال، دغه بدمرغه ډله په دې ډول سره له خان آباد څخه تر کابل پورې راوستل شوه او د بتخاك په سیمه کې میشت کړل شول، له هغه وروسته دوی د لویو خمکوالو او په خپله د شاه محمود خان په ځمکو کې په کرنیزو چارو بوخت شول تر څو یې نوم و نښام ورك شو. ددغه ټولو خواشینوونکو پېښو په وړاندې د اصلاح دولتي جریدې د ۱۳۱۰ ل. کال د غویي په ۷۲مه ګڼه کې دومره ولیکل، چې په خان آباد کې یو شمېر بندیان اعدام او یو شمېر نور کابل ته واستول شول. کله چې د ځدراڼو حشري ځوکونه له خان باد څخه بېرته کابل ته ستانه شول نادرشاه هغوی ته په سلطنتي دلکشاه ماڼۍ کې هر کلي ووایه

او ددې لپاره، چې حشري خواکونه بیا هم په راتلونکي کې ددې ډول عملیاتو د اجرا کولو په برخه کې وهڅول شي، د جګړې هر ټپي ته یې نغدې مرستې ورکړې او د هغوی د درملنې امر یې وکړ. د حشري وژل شویو کورنیو ته یې مستمري معاش مقرر کړ او نورو ته یې د سفر خرڅ پیسې او سوغاتونه ورکړل همدا رنګه کله چې شاه محمود خان د ۱۳۱۰ل. کال په زمري کې بېرته کابل ته راغی د همدې کال د وږي په میاشت کې یې خپلو ټولو ورسره سرتېرو ته یو میاشتني بخششي معاش ورکړ، له دې پرته د (سرکوبي اشرار قطغن) په نوم یې بهادري جوړې او نظامي افسرانو باندې یې وویشلې. دغه ټول شور زور فقط د ابراهیم بیګ د یوې ۷۰۰ کسیزې ډلې تمرد له لامله و، خو د شمال ولایتونو برخلیک په همدې ځای پای ته ونه رسېد. ډېر ژر محمدګل خان مومند د ۱۳۱۱ل. کال په پیل کې د شمال د ولایتونو د تنظیمیه رئیس په توګه وټاکل او واستول شو. دغه سړي، چې په ننګرهار، کاپیسا، پروان او کندهار ولایتونو کې په رسمي او څرګند ډول د افغانستان د خلکو تر منځ د نژاد او ژبې له پلوه ترجیح او تبعیض عملي کړ. دا دی اوس یې په قطغن، بدخشان، مزار او میمنه کې ددغې بدې تګلارې په پرمخ بیولو کې هڅې وکړه او د کینې، خصومت او تبعیض تخم یې په ذهنونو کې وکاره او هېواد یې په معنوي توګه د تجزیې ویش او چاودنې په لور بوت. ددغه تبعیض سیاست په پایله کې د اقلیت او اکثریت خبره پیدا او ژبنۍ او مذهبي تفرقه په هېواد کې را پیدا شوه، چې د پردیو او استعمار د استفادې سیاست او د هغو د خوښې زمینه برابره شوه. البته نادري دولت دافغانستان د خلکو د کرکې وړ و، نو د (دیل یې کړه بیل یې ره) شعار یې ځانته بېلګه وګرځاوه.

په هر حال، دا واقعیت دی د شلمې پېړۍ په افغانستان کې دغه تجزیه کوونکې ناخوالې هېڅکله په خپله د افغانستان د خلکو له منځ څخه نه دي راپورته شوې، بلکې د هېواد ټول خلک لکه پښتانه، تاجک، ترک او نور ټول عملاً د هېواد په ګډ برخلیک کې، په غم او ښادۍ کې ټول یو بل سره شریک وو، چې غوره بېلګه یې د پردیو په وړاندې له هېواد څخه د دفاع په تاریخ کې لیدلای شو. برسیره پر دې د افغانستان ټول خلک په مساویانه توګه د مستبد دولت تر بار لاندې او له بېوزلې، ناروغیو او جهل سره مخامخ په پکتیا، ننګرهار او کندهار کې پښتانه د هېواد له ترکي ژبو او دري ژبو څخه لږ له ناخوالو سره نه و مخامخ. د پکتیا خلکو جوارې پرېښودل، چې ښه ترخه شي او بیا یې وخوري تر څو یې لګښت کم وي. د ننګرهار خلکو آن د هغوی ښځو په لوڅو پښو دښتو کې مزلونه کول تر څو یوه ګوله ډوډۍ پیدا کړي، د فراه په کلیو کې (زه د کتاب لیکوال دده-درې کاله هلته وم) نه یوازې دا، چې نارینه، ښځو او ماشومانو پنې نه درلودې، څراغ او بوره یې هم نه پېژندله. د کندهار په کلیو کې خلکو پرته له ختمینو کوټو او کوڅو (شړې ډوله جامه ده) بل هېڅ نه لرل او په ځمکه به کښېناستل. دا د افغانستان د میلیونونو وګړو ژوند و، چې د افغانستان د واکمنو طبقاتو تر زور او چوپړ لاندې تکول کېدل. دولت له هغوی څخه مالیات، سوداګرو څخه د دلالۍ پیسې، روحاني ورڅخه نذر او ځمکوال خان ورڅخه د خان شیره غوښتله، له هېواد څخه دفاع، د هېواد د آبادي لپاره کار او خان ته بیګار ترسره کول هم د ملت په اومو بار و، خو سره له دې هم ماشوم یې د تعلیم وسایل نه لرل، ناروغ یې درمل نه لرل او وزګار یې د

کار وسایل نه درلودل، خو د دوی په وړاندې حاکمه طبقې په ښارونو او کلیو کې نعمتونه لرل او د هر څه خاوندان وو او سیاستوال په نړېوالو تولنو کې خپل جامونه ددغه ملت په ویاړ او نوم پورته کول، د دولت فاسده بوروکراسي لا اوس هم دغه ملت په رسمیت نه پېژني «د ۱۴۰ مخ اخري کرښه ورانه شوې دغه خلک، چې خانونه د ملت باداران بولي له پولو بهر کړل شي او د ملت شتمني ورڅخه واخیستل شي، د دوی زیاتره یې په تولنه نړی کې پرته له دې، چې غابړونه ومینځي، له بله طریقه خان ته یوه ګوله ورودی نشي پیدا کولای، نو طبیعي خبره ده، چې طفیلي او مفتخوره حاکمه طبقه د چور او تالان په دغه دسترخوان باندې د پاتې کېدو په خاطر، پرته له دې، چې کوم ترون یې لاسلیک کړی وی یو بل سره یو ځای شوي او د عظیم ملت، خېښناك په موازي کرښو کې یو بل سره اوږه په اوږه روان دي. واکمن اشراف، چې خپل نسب تر ارباب النواع پورې رسوي، پر مخ یې د دوکې نقاب غوړلی، خان نه یې د رعیت مسیح او جامع المعقول جوړ کړی دی. په جومجات کې لمونځ کوي او ویاړي، خو کله چې خلوت کې وي سل نور کارونه کوي. دوی هم خانان دي، هم سوداګر، قاچاقبر او هم سودخواره. دوی څمکوالو سره ورونه دي او له دلال سوداګر سره غمشریك دي او ملا ډوله خلك هم خپل معنوي پلورنه ګڼي. لوی ځمکوال، چې له حاکمه سره یو ځای د خلکو په خېښناك کې شریکه ده له واکمنې قوې څخه نه جلا کېدونکي دي. دوی د خلکو ترقي له خپل زوال سره برابره بولي، د بېلګې په توګه یو شمېر ملا ډوله مرتجعان هم د خلکو ویښېدل د خپل بازار د ماتیدو لامل ګڼي، نو ځکه دوی تول په ډله ییز، توګه د جهالت، ناپوهي او د خلکو او ولسونو تر منځ د دښمنی غوښتونکي او د ملت د وحدت دښمنان دي.

## د نادرشاه حکومت او د پکتیا خلک

د پکتیا خلك ددغې سیمې د جغرافیاوې او اقتصادي وضعیت له مخې د افغانستان د ګڼ شمېر نورو سیمو په پرتله بیوزله دي. د دوی کرنه ډېره محدوده او بهرنی سوداګري یې یوازې د سلیمانخېلو او خروټیو په څو کوچنیانو کورنیو پورې تړلې ده. کورنی سوداګري یې د لمنځي لرګي، رسی او پوزي دي، چې په کچرو باندې تر کابل پورې راوړل کېږي. د دوی خوراك زیاتره جواري او په کورونو کې تغر او توشکي نه لري، د دیوې او د غوړیو د څراغ په ځای له «چراغ چوب» پیلوڅي څخه کار اخلي. خو بیا هم دغوزړورو خلکو د افغانستان په تولو تاریخي پېښو کې د هېواد د آزادی په ساتنه کې رغنده او اغېزمن رول درلود. نادرشاه په دې تولو خبرو باندې پوهېد او په پکتیا کې یې عملي تجربه ترلاسه کړې وه، نو ځکه یې د افغانستان د سلطنت د ترلاسه کولو لپاره همدغه ولایت د خپلو فعالیتونو مرکز وګرځاوه او د دوی په مرسته یې د پاچاهي خولی پر سر کړ. له هغه وروسته نادرشاه ددغه خواك په لاس کې درلودلو په خاطر د خپلو مخالفینو په وړاندې له داسې وسایلو څخه کار واخیست، چې په ښکاره به هسې د پکتیا خلکو ورباندې دوکه کېدل، خو په واقعیت کې یې هغوی ځپل، نادرشاه په ظاهره دوی د عسکری له خدمت څخه معاف کړل او په حکومت او دفترونو کې یې د هغو خانانو ته درناوی وکړ هغه خپل ورور «د حرب وزیر» شاه محمود خان د پکتیا د قومي مشر په توګه او هندوستان شاه جي د دوی د

Scanned by CamScanner

او مشران یې د پیسو او امتیازاتو په ورکولو سره په غېږ کې ونیول، خو سلطنت هېڅکله نه غوښتل، چې د معارف په پراختیا، د خلکو د ویښولو، د صنایعو په تأسیس او د ژوند د کچې په لوړولو سره د پکتیا د خلکو په ژوند کې کوم کوچنی ګام اوچت کړي، دا ځکه چې د خلکو هوساینه او ویښتیا ددې خنډ کېدله، چې دغه ولایت په هر ډول چې وغواړي استعمال یې کړي؛ نو ځکه حکومت په عملي توګه خلک په تیاره، بېوزلۍ او احتیاج کې ساتل او همدا رنګه د پکتیا دننه یې د خلکو له وحدت او ولسي پیوستون څخه مخنیوی کاوه او د دوی تر منځ یې قومي نفاق او د سیالۍ اورونه بلول، د بېلګې په توګه شاه محمود خان، چې تر څو ژوندی و د ځاځیو او منګلو تر منځ یې دښمني وساتله. د ځاځیو خلک هغه ولس و، چې نادرخان ته یې ځای ورکړی و او هغه ته یې دوډۍ او وسله وال ځوانان ورکړل، چې په سقویانو باندې بری ومومي او په دې توګه نادرخان په تخت کښېناست، خو سره له دې هم کله، چې د ځاځیو یو شمېر مشران شاه محمود خان ته په پټه ورغلل او ورته ویې ویل، چې د ځاځیو او منګلو تر منځ کلونه کلونه د یو ټوټه ځمکې پر سر شخړه روانه ده او تر اوسه پورې ددغې غرنۍ ځمکې په سر څو سوه تنه له دواړو خواوو څخه وژل شوي دي او لا هم د منګلو خلک یو سل او څو نور خونونه له مونږ څخه غواړي او مونږ په دوی باندې دوه سوه خونونه پور لرو او شپه-ورځ یو بل ته په کمین کې ناست یاستو، اوس له تاسې څخه محرمانه هیله کوو، چې تاسې د پکتیا د لیدلو په نوم یو ځل هلته راشئ او په یوه لویه غونډه کې، چې په هغې کې د قومونو مشران ناست وي زمونږ او د منګلو تر منځ روغه وکړئ او فیصله وکړئ، چې په راتلونکي کې نوره شخړه او وینې توېول ونشي. مونږ ځاځي به په دغه غونډه کې تاسې وکیل کړو او ددغه سفر او غونډې ټول لګښت مخکې له مخکې تاته درکوو، چې تاسې یې په خپل نوم مصرف کړئ..." شاه محمود خان ته د پکتیا د ولس یووالی د سلطنت د پروګرام مخالف ښکاره کېده، په ښکاره یې د ځاځیو د مشرانو په وړاندې ډېر داد هغه وویل، خو په رښتني توګه یې هېڅکله په خپله ژمنه وفا ونه کړه. اعزازي جنرال ګلاجان خان، چې د اوومې دورې په ملي شورا کې د ځاځیو د خلکو منتخب استازی و او محمد نحادرخان د سقو د زوی د حکومت پر مهال د همدې سړي په کور کې اوسېد، په ډېر خپګان او کرکې سره یې د افغانستان د واکمنې کورنۍ له (ښېل یې کړه یل کړه) تګلارې څخه سر ټکاوه او ډېر شواهد او دلایل یې لرل او هغه یې بیانول، دا یواځې نه، بلکې هغه وخت چې د ځدراڼو دریځېلو د سلطنت په ضد پاڅون وکړ، دولت د پکتیا نور قومونه د دریځېلو په وړاندې پاڅون او د دوی تر منځ یې شخړې او دښمنۍ رامنځته او په دغه ولایت کې یې داخلي خصومت زیات کړ.

# اووم

# د اختناق او ارتجاع په دوره کې د هېواد ټولنیز، اقتصادي او سیاسي وضعیت

## د معارف په ساحه کې

هغه لومړنی کار، چې سلطنت ترسره کړ، هغه د نجونو د ښوونځیو تړل او د ارشاد النسوان د جریدې بندول و. افغاني زده کوونکي یې له ترکیې څخه په جبري توګه راوغوښتې او په بورقه او چادري کې یې پټې کړې، همدارنګه په ترکیه کې یې افغاني شاګردان راټول او ویې شړل. آن دا چې له دوی څخه نهه تنه چې کابل ته را ورسېدل، سمدستي یې زندان ته واچول (د اصلاح دولتي جریده: د ۱۳۱۰ل. کال کب، ۵۵ ګڼه) په پلازمینه کې یې د اماني، امانیه او حبیبیې د لیسو د لوړو ټولګیو زده کوونکي تلقین او تحریک کړل، چې تحصیل پرېږدي او یو شمېر نور یې د سن د زیاتوالي په بهانه له امانیه او حبیبیې لیسې څخه وشړل. دا ځکه چې سلطنت د پخوانیو زده کوونکو روزنې څخه وېره لرله او موخه یې داده، چې یو نوی نسل وروزي، چې له دولت څخه په ړندو سترګو له اطاعت کولو پرته یې نور څه نه وي زده. همداسې هم دولت په ټول هېواد کې منځنې او ثانوي ښوونځي وتړل. خو یواځې په کابل کې یې پخوانی لیسې بهرنیانو ته د ښودلو په موخه پرېښودې، چې اداره یې نظامي اداره وه، یعنې د ښوونځیو مدیرانو په تېره بیا هندوستاني ښوونکو به زده کوونکو ته کنځلې کولې او وهل ټکول به یې. زده کوونکي اړ وو، چې هره ورځ د مدیر په راتګ سره د ښوونځي په غولي ودرېږي او نظام سلام اداء کړي، په لږ بې پامۍ سره به د ټولګي تر مخې وهل کېدل او که لږ مقاومت به یې وکړ له ښوونځي څخه به شړل کېدل. د معارف وزیرعلي محمد په خپله شخصاً د کابل د صنایعو په ښوونځي کې څلور تنه د رشیدیه دورې زده کوونکي د آزادو خبرو کولو په تور پر څمکه وغورځول او د چپړاسیانو په لاس یې لکه د غلو او خاینانو په توګه ووهل. هېڅ زده کوونکي نشو کولای، چې په ښوونځي کې سیاست په هکله خبرې وکړي، ډېره هڅه کېده، چې نوې ځلمکي زده کوونکي ډارن او غوړه مال وروزل شي.

له دغو ټولو دسیسو سره سره سلطنت نه پرېښودل، چې ملي معارف، چې هسې په نامه او د نمایش په بڼه و، وده وکړي. د بېلګې په توګه د نادرشاه د سلطنت به څلور کلنه دوره کې د دغه فلج شوي معارف د شاګردانو شمېر یواځې ۴۵۹۱ تنه وو او د ښوونکو شمېر یواځې ۱۲۵ تنه وو (و. ک: د افغانستان در پنجاه سال اخیر رسمي کتاب، د کابل چاپ ۱۰۳۴۷ل. کال ۲۳ مخ) حال دا، چې د نادر شاه د معارف وزیر فیض محمد زکریا په خپله اعتراف کړی و، چې د امانیه دورې په وروستي کال کې د افغانستان د رسمي ښوونځیو د نجونو او هلکانو زده کوونکو شاګردانو شمېر درې اتیا زره تنه وو (و. ک: اصلاح جریده، ۵۵ ګڼه، د ۱۳۰۹ل. کال سلواغه دریم مخ). کله چې نادرشاه په ۱۹۳۲م. کال د افغانستان په

Scanned by CamScanner

اووه ولايتونو کې يواځې د اووه ښوونځيو د پرانيستلو امر ورکړ، د اصلاح جريدې دغه اقدام
(اعجاز) وباله او د هغه ډېر صفتونه يې وکړل، حال دا، چې په دغو ښوونځيو کې ماشومان په خاورو
باندې کښېناستل او د سيمه ييزو کم سواده ښوونکو په واسطه د سواد په زده کړه بوخت وو. د نادرشاه
د سلطنت په څلورو کلونو کې د ټول افغانستان د لومړنيو ښوونځيو شمېر (د پلازمېنې په ګډون) له ۲۷
څخه زيات نه وو، چې هغه دا وو: کابل، شيوه کې، ده خداداد، سرآسيا، جهلستون، مزار، خلم، آقچه،
هرات، کندهار، خان آباد، فيض آباد، رستاق، اندراب، جلال آباد، لغمان، ميمنه، اندخوي، شيرين
تګاب، فرار، ګرديز، غزني، دايزنګی او چاريکار. يواځې په کابل کې پخوانۍ متوسط او ثانوي
ښوونځي (حبيبيه، امانيه، اماني، دارالمعلمين، کېږنی ښوونځی، استقلال او صنايع) وساتل شول او د
طبيه ښوونځي پر ځای د طب پوهنځی سره له يوه سناتوريم نوي جوړ شول او بس (و.ک: سالنامه کال. د
۱۳۱۲ل. کال چاپ.)

د کابل د زده کوونکو د کنترول او بوخت ساتلو په خاطر دولت په ۱۳۱۰ل. کال کې د شاهي کورنۍ تر
څارنې لاندې د معارف د زده کوونکو څخه د کشافاتو ټولنه جوړه کړه. ددغې ټولنې سرپرست شهزاده
محمد ظاهر د پاچا زوی او اعلی کشاف سردار محمد هاشم خان د پاچا ورور او صدراعظم و، اعلی
قوماندان سردار شاه محمود خان و، چې نوموړی د پاچا بل ورور و. د (شيربچه ها) رئيس سردار زلمی و،
ددغې ټولنې سکرتر يعقوب خان سکاوت هندوستانی او د هغوی نړيوال قوماندان علي محمد خان (د
معارف وزير) شاهي کورنۍ پورې اړه نه لرله پرته له دغو دوو وروستيو کسانو نور ټول د شاهي کورنۍ
غړي وو. ددغې ټولنې په ژمنليك کې پاچا ته خدمتګذاري او لوړ چارواکيو ته بې قيده او شرط انقياد
ليکل شوی و. هغه لومړنی چا، چې دغه ټولنه په رسميت وپېژندله له هغه د لندن د کشافاتو نړيواله
ټولنه وه. سلطنت همدا چلند د معارف د کلبونو په تأسيس کې او د خارجه او حربيه کلوبونو او د
(اصلاح و شرقي عسکري) د مجلس په تأسيس کې هم پر مخ بوت. يعنې له ګټورو مرسساتو څخه يې تر
رسمي څارنې لاندې د قدرت په سيوري کې ناوړه شخصي استفاده کوله او ملکي او نظامي روڼ اندي
يې په دغو موسساتو کې شامل او بوخت يې وساتل او د جاسوسۍ څارنې لاندې وو. ددغو ټولنو غړي
به د رسمي دندې له پای ته رسېدلو څخه وروسته د ماښام تر لمانځه پورې په دغو موسساتو کې په لوبو
او ورزش باندې بوخت وو، بيا به ستړي، ګنګس او ستومانه خپلو کورونو ته تلل او د سياسي تفکر او
ټولنيزو وسايلو کوم فرصت ورته نه پاتې کېده.

سلطنت ډېره هڅه کوله، چې نړۍ ته داسې وښيئ چې د افغانستان خلك په بنسټيزه توګه له معارف،
ترقۍ او تحصيل سره ضد لري او دا دولت دی، چې د افغانستان د پينځلس ميليونه وګړو لپاره يې ۲۷
لومړني ښوونځي جوړ کړي دي او په کابل کې يې د طب پوهنځی له څو تنو زده کوونکو سره جوړ کړی
دی. په واقعيت کې سلطنت د پخوانيو ښوونځيو په تړلو سره په حجاز کې په حاجي خانه جوړولو او په ا
فغانستان کې د فقهي مدرسو او حفاظونو په تأسيس بوخت و لکه په کابل کې د دارالعلوم جوړول، د
مدرسې او حفاظ او جمعيت العلماء جوړول. په ننګرهار کې د نجم المدارس جوړول په کندهار کې د

Scanned by CamScanner

محمدیه مدرسې جوړول، په هرات کې دارالعلوم جوړول، په میمنه او اندډې د مدرسې او حفاظ جوړول او داسې نور... او همدارنګه د یو څو دارالایتامونو او دارالمجانینو جوړول. (۱۳۰۹ - ۱۳۱۰ ل.)

د بېلګې په توګه د نادرشاه له پاچاهۍ څخه مخکې یواځې په ترکیه کې ۲۰۵ تنه افغاني محصلان، چې لس تنه یې نجونې وې په ملکي او نظامي ځانګو کې تحصیل کاوه، چې په هغوی کې یو شمېر یې د اړ- دوړ پر مهال د امان الله خان د مرستې لپاره افغانستان ته راغلل، پاتې نورو د نادرشاه سلطنت پر مهال راوغوښتل شول. خو په دې ټولو کې یواځې یو څو تنه، چې یا محمدزي وو او یا هم په نوي دولت پورې تړلي وو، د هېواد په اردو کې ځای پر ځای شول لکه د شاهي کورنۍ غړي محمد کریم خان چې په تحصیل کې د ناکام پاتې کېدو سره سره رئیس او بیا د ولایت والي شو. عارف خان محمدزی، چې د جنرالۍ رتبه یې واخیسته، د پلازمېنې کابل د قول اردو قوماندان او بیا حربیه وزیر او په پای کې په شوروي کې سفیر شو. محمد قاسم خان محمدزی جنرال شو، د پوځ قوماندان او په پای کې ایتالیا ته د مختار وزیر په توګه ولاړ محمد انور خان محمدزی رئیس، بیا جنرال او د پوځ قوماندان شو. زکریا خان محمدزی جنرال او د غزني د پوځ قوماندان شو. د محمدزیو یو خپلوان عبدالاحد خان ملکیار غزنوي و، چې نایب سالاري، د پوځ قوماندانې او بیا د کورنیو چارو وزارت ته ورسېد او محمد جعفر خان نورستانی لوی جنرال شو او دوی ټول میلیونران شول. خو د دوی په وړاندې له نورو ټولو زده کوونکو څخه یواځې دوه تنه د نمونې په خاطر تر فرقه مشرۍ پورې ورسېدل او بس لکه محمد افضل خان ناصري او محمد علي خان ابوي، چې وروسته دوی هم تقاعد شول. پاتې ۱۹۴ شاګردانو څخه یو تن (عبدالباقي خان کندك مشر پغمانی) د سقاو په وړاندې د مزار په جګړه کې ووژل شو او یو تن محمد اصغر ټولی مشر افغانستان ته له راتګ څخه ډډه وکړه، نور پاتې یې په افغانستان کې په قطعاتو کې له شمولیت څخه بې برخې شول او یو شمېر یې په نورو فرعي ادارو کې وویشل شول او نور شمېر یې په ملکي دندو کې اخته شول یو څو نور هم یا وشړل شول یا بندیان شول. آن دا، چې ځینو یې پیشه وري او دکانداري پیل کړه، د بېلګې په توګه جنرال عبداللطیف خان غازي، چې د خپلواکۍ په جګړه کې یې د پکتیا په سنګرونو کې د انګرېزانو په وړاندې فاتحانه توري وهلې وې د کابل د چندولو په بازار کې په یوه بس کوچه کې د پېڅه سوو افغانیو په پانګه د بنجاره ګۍ یوه خوارکۍ هټۍ پرانیستله او تار- ستن یې پلورل. یو شمېر نور په ځوانۍ کې تقاعد شول. همدغه چلند په جرمني، فرانسه، ایتالیا او شوروي کې له افغاني زده کوونکو سره وشو (په نظامي او ملکي برخو کې) جنرال عبدالقیوم خان بارکزي، احسان خان او غلام دستګیرخان هوایي افسرانو څخه نور ټول په فرانسه، شوروي او ایتالیا کې پخواني تحصیل کړي خلك فقط یواځې ژباړونکي او ګمنامه خلك شول یا هم لکه غونډ مشر نادرشاه خان پغمانی بهر ته په تېښتې باندې اړ شول یا هم لکه محمد یعقوب خان غونډ مشر او میرغلام خان بهار ټول مشر او غلام حیدر خان کندك مشر او محمد غوث خان کندك مشر او نورو په شان په زندان کې واچول شول او داسې نور...

Scanned by CamScanner

## د مطبوعاتو په ډګر کې

سلطنت د هېواد آزاد او انفرادي مطابع لکه انیس او رفیق مطبعه او نوري چاپخونې وتړلې او د چاپ او طبع ټولې چارې یې دولتي مطبعې پورې وتړلې. همدا رنګه د کابل ګمرک ته یې دنده وسپارله. چې د ټایپ ماشینونو وارد بدل کنترول کړي او د واردوونکو نوم او سیمه لست دې حکومت ته وسپاري سوداګر او، چې د پېرېدونکي نوم او هویت حکومت ته وسپاري. د دولت ادارو د خپلو ټایپ ماشینونو مسئولیت درلود تر څو پرته له رسمي پاڼو څخه هېڅ کرښه ټایپ نه شي. نادرشاه شخصي انیس ورځپانه دولتي کړه او د مجلو او جرایدو ټولې مقالې یې مخکې له خپرېدو څخه کنترول (سانسور) کولې. آن دا چې د کابل مجلې مطالب په خپله نادرشاه مخکې له چاپ څخه کتل او سانسور کول یې... دولت د آزادو جرایدو پر ځای د (حی علی الفلاح) مجله د جمعیت العلماء د نوي تأسیس شوي ګوند د غړو په واسطه خپره کړه او د اصلاح او انیس ورځپاڼې یې ملایانو ته وسپارلې (محمدامین خان خوږیاڼي او برهان الدین خان کشککي د هېواد ټول مطبوعات په خرافي او تبلیغاتي بنه باندې بدل شول کابل ادبي ټولنه، چې وروسته بیا د مطبوعاتو په ریاست بدله شوه، په اصل کې د ۱۹۳۱م. کال په جولای کې د پروپاګند لپاره جوړه شوې وه، خو کله چې د ټولنې یو شمېر غړو د حکومت له غوښتنو څخه سرغړونه وکړه، ډېرې کلکې سزاګانې ورکړل شوې. همدارنګه هسې په نوم یو شمېر ادبي ټولنې په هرات او کندهار (۱۹۳۲م.) کې هم جوړې شوې، نور نو څوک قادر نه وو، چې د ټولنیزو نیمګړتیاوو په هکله یو ټکی هم ولیکي یا هم د انګلیسانو له دښمنۍ ډک سیاست په هکله کوم ټکی ولیکي او خبره وکړي. همدا رنګه د امان الله خان د نوم یادول د ټولنیز انقلاب یادول جرم او خیانت وګڼل شو. انیس جریدې په ۱۳۰۸ل. کال کې د امنیت تر عنوان لاندې ولیکل:

"... نه یواځې دا، چې غل او لاره وهونکی د امنیت دښمنان دي، بلکې هر هغه څوک چې د خلکو په ذهن کې ډېر لړ وېره اچوي، هغه هم د امنیت دښمن دی، یعنې زمونږ د نیکمرغۍ لوی مخل دی، له بده مرغه مونږ د امنیت دغه ډول ډېر دښمنان لرو یعنې د امنیت هغه ډول دښمنان چې عمومي افکار پریشانه کوي او د چاپیریال روحي او فکري امنیت ګډوډوي... مثلاً هغه څوک، چې په غونډو کې کېني او د زید او بکر د ګوندونو په پلویتوب عمومي افکار ګډوډ کړي، ځینې وخت غواړي چې خلک ددې یا هغه پلویان کړي. مونږ په خپل چاپیریال کې ډېر داسې کسان پېژنو، چې د بې امنیتۍ او وېرې لامل کېږي..." (و.ک: انیس، د ۱۳۰۸ل. کال د چنګاښ ۱۷ مه ګڼه) اصلاح جریده د سلطنت او د واکمنې کورنۍ د کټو له صفتونو او له موعظو څخه ډکه وه او د پخواني رژیم بد پکې ویل کېدل. ددغې جریدې لیکنې د معاریفو د منني مصنوعي عرایض وو او د هغو په وړاندې شاهانه له مرحمت څخه ویناګانې خپرېدې، ځینې وخت به د خلقت عجایب (دوه سر لرونکې پسه، پېنځه پښې لرونکی خوسکی او د درې غاړې لرونکی چرګ او نورو) په هکله لیکنې وې. (و. ک: د اصلاح د جریدې د لومړیو څلور کلونو کلکسیون، په تېره بیا د ۱۳۱۳ل. کال د غبرګولي ۲۵۸ ګڼه). دغې رسمي جریدې د نادرشاه په وروستي کال کې د بېلګې په توګه په ۱۳۱۳ل. کې د غبرګولي په ۲۲۵-۲۲۷ ګڼو کې د (باید د غیبت او هسې خبرو کولو

څخه ډېره وشي تر سرلیک لاندې او د وجوب حفظ شرافت زبان» موضوعاتو کې خلك له سیاسي خبرو کولو منع کړي وو او د وطن او ټولنې په هکله یې له بحث څخه مخنیوی کړی و. دا یواځې نه بلکې دولتي مطبوعاتو او فرمایشي تاریخي درسونو کې هڅه کېده، چې نادرشاه او ورونه د څپلواکۍ ګټونکي او لکه د محمود غزنوي په شان یې د افغاني دولت یواځینی تأسیس کوونکی وبولي او په هېواد کې یې د تهذیب او تمدن خپرونکی وشمېري. پایله دا، چې دوی د افغانستان جوړوونکي وګرځوي. نور نو دوی ته د هېواد پخوانی موجودیت او تاریخ کوم ارزښت نه درلود. د لیکوالو یو نوی قشر را ډګر ته شو او مرتجع شاعران پیدا شول، چې واکمنې کورنۍ ته یې غوړه مالي کوله، چې تر نن ورځې د هغوی اولادونه په دغه شرموونکي کار اخته دي او په خپله مبتذلو بې ارزښته آثارو د افغانستان د روڼ اندو رښتینو لیکوالو د غوسې لامل کېږي او د لیکوالانو د شرم سبب شوي دي. دغه تالي څټي د وخت د تېرېدو په ترڅ کې په غوړه مالۍ کې دومره ستر شول، چې اوس یې د صفت او مداحۍ په برخه کې هر یو یې په منځنۍ آسیا کې یو نوښتګر ګڼل کېدای شي.

په کابل مجله کې. چې کومې تاریخي مقالې، لیکل کېدې «د دغه کتاب د لیکوال نګاهی به افغانستان اثر» په هغو کې به چېرې د انګرېزانو نظامي سیاست په هکله خبره وشوه یا به د هغو د ماتې خوړلو په هکله خبره وشوه، نو د پاچا د سر منشي میرزا نوروز خان له خوا به په ګوابښ سره له منځه وړل ګېده «دغه سړي یواځې لږ څه سواد درلود، چې د ادبي ټولنې کانترولر او رییس و» د «قلم د رکف اغیار» د مقالو لړۍ چې په هغو کې د افغانستان په هکله د انګرېزي لیکوالو له بدو نظرونو څخه پرده پورته شوې وه او د کابل مجله کې خپرېده، د پاچا په حکم بنده شوه او امر وشو، چې د هغو پر ځای دې د سعدي د بوستان نظمونه راوستل شي. په همدې مجله کې د «عفت زبان» په نوم مقاله خپره شوه، چې افغاني روڼ اندي یې په سیاسي او ټولنیزو موضوعاتو کې چوپتیا ته بلل (و.ګ: د کابل مجلې د ۱۳۱۰-۱۳۱۲ل. کلونو کلکسیون).

ددغو دولتي مطبوعاتو خبره تر دې برید پورې ورسېدله، چې یوه ورځ سردار غلام سرور ګویا یو عاشقانه غزل غوره کړ او د انیس په جریده کې یې خپور کړ، خو شاهي سانس دغه بدمرغه غزل محکوم او سزا یې ورته وټاکله. داځکه چې په هغه کې د «سرخ» کلمه هم راغلې وه، چې له دې څخه د انقلاب معنا اخیستل کېده، نو ځکه د انیس موقتي لیکوال سرور جویا د شاهي دارالتحریر تر پوښتنې او غوسې لاندې راغیش او ډېر ژر له انیس څخه منفك شو او وروسته بیا زندان کې واچول شو او هلته ۱۳ کاله بند شو، خو ښاغلی ګویا، چې د محمدزي وبخښل شو او وروسته بیا د افغانستان د یوه لوی شاعر او ادیب په توګه د افغانستان د ګاونډیو هېوادو ادبي محفلونو کې معرفي شو، خو په ټول عمر کې هغه نه کوم کتاب او نه کوم شعر لیکلی و، همداسې هم د اصلاح سرکاتب حسن سلیمي، چې د اصلاح په جریده کې د ژمي رانږدې کېدل او د ببوزلو د لاسنیوي په هکله د سردار سلطان احمد خان یوه مقاله خپره کړې وه، د سوسیالیزم په ایدیالوژۍ تورن او د لاسپوڅو آخندانو له خ-وا تکفیر شو. هغه د فراه له لارې ایران ته وتښتید او تر نن ورځې همالته ژوند کوي، خو د مقالې اصلي لیکوال ښاغلی

Scanned by CamScanner

سردار سلطان احمد خان له دې کبله، چې محمدزی دی همداسې پاتې او لوړو دولتي دريځونو کې وټاکل شو او آن د بهرنیو چارو وزیر شو.

یو مهال دغه سانسور د کابل تر سندرغاړو پورې هم ورسېد، د بېلګې په توګه یوه شپه کابل هوټل کې د افغانستان نامتو سندرغاړي استاد قاسم په عمومي غونډه کې یو څو داسې شعرونه ویل، چې داسې پیل کېدل: (چیست مردی و مروت؟ حب کشور داشتن، کینه و بغض برادر را زدل برداشتن...) په هغه سبا استاد قاسم دربار ته وغوښتل شو او ورته وویل شول، چې د پرونۍ شپې غزل یو ځل بیا ولولي. وروسته تر هغه پاچا امر وکړ، چې وروسته تر دې که کوم غزل وایي هغه به د کابل ادبي ټولنې له خوا ورته غوره کېږي. د ادبي ټولنې مدیر احمدعلي دراني هندي ته په ټیلیفون کې امر وشو، چې استاد قاسم ته باید د سعدي له ګلستان او بوستان څخه مناسب شعرونه ورکړل شي، چې وروسته تر دې هماغه ووايي. دغه ټول جریانات د هېواد د ملي معارف په ساحه کې او په مطبوعاتو کې په ټکي او په زور سره د افغانستان د وطنپالو او روڼ اندو د سترګو په دې توګه د وطنپالو او خپلواکۍ غوښتونکو او واکمنې کورنۍ د دستګاه تر منځ یو خونړی ټکر پېښ شو. دغه دولتي مبتذل مطبوعات د سلطنت د هر یو کوچنی نمایش عمل په آسیا کې د یوې معجزې او لوی کار په توګه ښوده، خو هغه ویجاړتیا او خیانتونه، چې په هېواد کې ترسره کېدل له هغو څخه یادونه نه کېده. د بېلګې په توګه کله چې نادرشاه د بالاحصار کنډوالې، چې هلته کیوناري وژل شوی و او د انګرېزي پوځ ماتې پکې خوړلې وه، یو ځل بیا ورغاوه، دغو مطبوعاتو یې ډېرې ستاینې وکړې، خو هیڅ ونه ویل، چې د شهرآرا تاریخي ځلی، چې په دوهمه افغان انګلیس جګړه کې د انګرېزانو د ماتې یوه نښه وه، ولې په کنډواله بدل شو؟

همدا رنګه کله، چې د انګلیس دولت په نورستان ولایت کې افغاني «دوکالم» کلی بېرته افغانستان ته ورکړ «دغه کلي کې دېرش کورنۍ نفوس ژوند کاوه» او دغه کلی د کونړ او د ارنوي د سیندونو تر منځ پروت دی، نو مطبوعاتو د سلطنت شکرو ته ایستل پیل کړل حال دا، چې ټول پښتونستان په قصدي توګه د انګرېزانو د استعمار په واک کې پرېښودل شوی و. «دوکالم کلي کې د سقوي اړ-دوړ پر مهال د چترال مهتر په یوه غونډۍ باندې یو کلا آباده کړې وه او دغه کلی یې نیولی و». په ۱۹۴۰م. کال کې د افغانستان په آزادو سرحداتو کې سرخپوشانو د غورځنګ له خوا پاڅونونه وشول، ورپسې د وزیرستان خلکو د انګرېزانو په وړاندې پاڅون وکړ، همدا مهال اپریدي هم پاڅېدل او محکوم پښتنو ته یې ګواښ پیښ کړ. په تیرا کې مومند د بریتانیا د واک په وړاندې پاڅېدل. د وزیرستان د مشر فقیرايپی په لارښوونه دغه پاڅونونه پراخ شول، چې د امپراتورۍ ځواکونو ته یې ډېر مالي او ځاني زیانونه واړول، آن دا چې انګرېزان اړ شول، چې ورو ورو خپلې پوځي چونۍ په آزادو سرحداتو کې پرېږدي، خو د افغانستان سلطنت د افغانستان په حیاتي او ملي جشنونو کې څه وکړل؟ دوی په چوپه خوله دغه ملي ولوله بیزه منظره کتله او بس. همدا مهال په دې هکله د کابل په دربار کې د انګرېزانو مختار وزیر فریزرتتلر په ډېرې خوښۍ سره د ستاینې په بڼه ولیکل: «کله چې په ۳۰-۱۹۳۱م. کلونو کې د سرخپوشانو او اپریدو وسله والې مبارزې او په ۱۹۳۳م. کال کې د مومندو وسله وال پاڅون د انګلیس

Scanned by CamScanner

د دولت په ضد پیل شو او قبایلي مشران د مرستې اخیستو لپاره کابل ته راغلل. د افغانستان د سلطنت له خوا ټول تش لاس بېرته ستانه شول.

همدا رنګه کله به، چې د بریتانیا بیرحمانه تیري په ټولو سرحدي سیمو او په افغاني آزادو قبایلو باندې بریدونه کېدل او هغوی به په قبایلي سیمو کې ټکول کېدل یوه ته یې هم د افغانستان د دولت له خوا د بریتانیا په ضد د وسله وال پاڅون په خاطر مرسته ورنکړل شوه او نه هڅول کېدل... د آزادو قبایلو په اړه د نادرشاه سیاست د قبایلو د کرکې وړ وګرځېد، نو ځکه په ۱۹۳۳م. کې د بریتانیا د بندیزونو سره سره د ډیورنډ له کرښې را تیر شول او د خوست متون یې کلابند کړ...

؟؟؟په افغانستان په کابل کې د انګلیس ممتاز وزیر فریزتنلر تألیف شوی کتاب د لندن.......

## اقتصادي او ټولنیز وضعیت

د نادرشاه سلطنت د هغه تر مړینې پورې د هېواد د مالي، کرنیزو، صنعتي او تولیدي منابعو او د هغو د قوانینو د اصلاح په هکله یو ګام هم اوچت نه کړ. له همدې امله وه، چې د دولت عواید د امانیه دورې له ۱۸۰ میلیونه افغانیو څخه ۱۰۸ میلیونه افغانیو ته راټیټ شو (و.ګ: افغانستان در پنجاه سال اخیر کتاب د ۱۳۴۷ل کال چاپ، ۵۵- ۲۷ مخونه). د هېواد د اقتصاد بنسټ په پخه ودرېد، کرنه یو ګام هم پرمخ ولاړه، بلکې د امانیه دورې د کرنې ښوونځی هم وتړل شو او د هغه ۴۳ تنه مسلکي افغاني زده کوونکي، چې بهر کې یې هم زده کړې وې، ټول له دندو څخه وایستل شول. د کولبې، ریبلو، تخم شیندلو او غنم پاکولو ماشینونه له منځه یووړل شول. د چرګوړو ایستلو او پیله ورې ماشیونه هم له منځه یووړل شول. د امانیه دورې پلانیزه صنعتي موسسات لکه د صابون جوړولو فابریکه، د موټرو د ترمیم فابریکه، کانسرو جوړولو، تیل ایستلو، تنې جوړولو، ترکاڼي، جرابو او بنیان جوړولو، تار اوبدلو او د جبل السراج د رخت جوړولو او د کندهار نساجي فابریکې بېرته په کار ولویدې، خو پراختیا ورنه کړل شوه. وروسته یې بیا د پوست کنډلو، څرمن جوړولو او ګوګړ جوړولو فابریکې، چې ملي او د دولت مال وې، ټولې یې خصوصي سوداګرو ته ورکړلې او وپلورل شوې، د وړې اوبدلو فابریکه یې په اجاره ورکړه (و. ګ: افغانستان در پنجا سال اخر کتاب).

البته سلطنت د هېواد د اقتصاد بنسټ ته د پاملرنې پر ځای، سوداګریزو اسانتیاوو ته پاملرنه وکړه. په همدې موخه یې د (شکاري درې) د موټرو لاره، چې پروژه یې د امان الله خان په دوره کې جوړه شوې وه پیل کړه او په ۱۳۰۹ل (د ۱۹۳۰م په مارچ) کې یې د هراتي سوداګر عبدالمجید خان زابلي په واسطه یو سهامي شرکت د دولتي پېنځه میلیونو افغانیو په پانګه جوړ کړ. دغه شرکت، چې دد دولت د بهرنۍ سوداګرۍ د حکومتي پیرودنو، پولي تبادلاتو او صرافي، د نقدي اسنادو د حق الطبع او په راتلونکو انحصاراتو کې د ګډون د اولیت حق ترلاسه کول په واک کې لرل او د هېواد د مهمو وارداتو لکه، بورې او تیلو او د هېواد د مهمو صادراتو لکه پومبې، وړۍ او قره قل امتیازات درلودل. نو په لږ وخت کې یې زښته ډېره ګټه وکړه او ډېر ژر په خصوصي پانګه واړول شول او وروسته په ۱۳۱۲ل. کال کې د یوه

Scanned by CamScanner

خصوصي بانك په توګه خو (د ملي بانك) په نوم په بنه راڅرګند شو او د افغانستان مهم بهرني سوداګریز توکي یې په واك کې کړل، چې لوړه ګټه او زیاته اندازه سود یې درلود. په تېره بیا، چې امانیه دولت لا د مخه له ۱۳۰۰ کاله څخه تر ۱۳۰۷ل. کال پورې د سوداګریزو قراردادونو په لاسلیك کولو سره له بریتانیا، شوروي، فرانسې، پولند، مصر، فنلاند او سویس سره د سوداګرۍ د پراختیا لاره هواره کړې وه. د دلالي او سوداګري ددغې نوې صحنې لوبغاړي عبدالمجید خان، عبدالخالق خان، سیدکریم خان مختار زاده هراتي، محمدعمر خان کابلي، موسی خان کندهاری او څو نور سوداګران وو، چې اشراف، ځمکوال، خانان او د واکمنې کورنۍ یو شمېر غړي یې د خپلو شریکانو او ملګرو په توګه ځان سره کړل د همدغې دلالي ډوله سوداګري د آسانه کولو په خاطر د سوداګریزو شخړو د هواري ریاست په ۱۳۰۹ل. کال کې جوړ کړ.

باید په پام کې ونیسو، چې په افغانستان کې د سیاسي خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو له مهال څخه وروسته بیا د امانیه په دوره کې پانګوالي مناسباتو د زاړه فیوډالي نظام له منځه چټکه وده وکړه او د همدې پانګوالي مناسباتو د ودې د چټکتیا له امله تولنیز فعالیتونه د امانیه دورې د ریفورمونو په بڼه راڅرګند شول. سره له دې، چې د تحول او لېږدېدنې دغه دوره لا بشپړه شوې نه وه، خو بیا هم د منځنیو پېړیو نظام مخ په ځوړ روان شوی و او په ځمکو باندې د فیوډالي ملکیت بڼه د شخصي ملکیت په بڼه بدله شوې وه او ورو ورو کرنیز تولیدات د سوداګرۍ جریان ته لوېدل، یعنې کرنې سوداګریزه بڼه غوره کوله، په دې توګه د هېواد دننه استهلاکي بازار پراخه شوی و. البته د مالیاتو زیاتېدل او د تجارتي پانګې فعالیت د بزګر له واك او لاس څخه ځمکه د ملاك، سوداګر او مامور لاس ته ولېږدوله، چې دا کار د پراخه پرګنو د خپګان لامل و او ګڼ شمېر خواریکښ بزګران بې ځمکې کېدل.

د نادرشاه په دوره کې، چې موخه یې د دلال سوداګرو او ملاکانو پیاوړي کول وو د امانیه دورې برخلاف د یو شمېر خانانو له لاسه وتلي امتیازات بېرته په لاس ورغلل. یو شمېر خانان بېرته په خپلو سیمو او حکومتو کې او یو شمېر ملایان په معارف او قضا کې بېرته واکمن شول. همدا رنګه هغه ملاکین، چې له سوداګرو سره یې اړیکې وې، د سیاسي او اقتصادي امتیازاتو لرونکي شول او د سوداګریزې پانګې لرونکي لوړ قشرونه د هېواد په سیاسي واك کې شریکان او برخمن شول. په دې توګه هېواد له نورو هېوادونو سره په سوداګرۍ کې تړلی او د پانګې نړېوال بازار باندې متکي پاتې شو. په دې توګه دا عمل د پانګوالي اجناسو په اقتصاد باندې بدل نه شو، بلکې د اجناسو د اقتصاد په حال کې پاتې شو.

## پوځ

نادرشاه د یوه پیاوړي او ځواکمن اردو په جوړولو کې زیار وکېښ او په پوځ کې یې د انقیاد او اطاعت دسپلین پیاوړی او عام کړ، خو بیا یې هم د نظامي قومندانیو سروالان یوازې له خپلې کورنۍ او

Scanned by CamScanner

خپلوانو څخه وټاکل. په دوهم ګام کې یې په نورو وروستیو دریځونو کې هغه افسران وټاکل، چې د واکمنې کورنۍ له درناوي، د پټو سترګو منندویي څخه پرته یې بل څه نه پېژندل.
په دې توګه د نظامي رتبو د ترلاسه کولو لپاره فني او علمي صلاحیت په پام کې نه نیول کېده، بلکې ددې پر ځای پاچا او د هغه کورنۍ ته د سربښندنې روحیه او ساده فکر لرل کافي وو. له همدې امله ټول تجربه لرونکي، نامتو او زده کړه لرونکي افسران ورو ورو له اردو څخه وایستل شول او یا هم په فرعي څانګو کې بوخت شول،خو هغوی، چې اشراف او د اشرافو په چوپړ کې وو، اردو کې وګومارل شول، د بېلګې په توګه د پاچا ورور شاه محمودخان د افغانستان د وسله وال پوځ سپه سالار او د حرب وزیر او د حربیې وزارت وکیل د پاچا زوی شهزاده محمد ظاهرخان، د ګارډ قومندان د پاچا خوریی اسدالله خان او د ننګرهار د پوځ قومندان د پاچا وراره محمد داود وټاکل شول. د اردو ریاست احمدعلي خان لودین او د حربي فابریکې ریاست او د چاپخونو مشري پنجابي ګاډیوان عبدالله شاجي ته وسپارل شول، چې نوموړی د عسکري په الفبې هم نه و خبر، حال دا چې نامتو څېرې لکه محمدعمرخان سور جرنېل، جنراال عبداللطیف خان او جنرال عبدالقیوم خان او د افغانستان د اردو نور لوی افسران وشړل شول او په بهر کې زده کړه کړیو ځوانانو افسرانو ته پرته له څو محمدزیو څخه دنده ورنه کړل شوه او له نظامي قطعاتو څخه وایستل شول، یا هم د زباړونکو او کاتبانو په توګه وګومارل شول.
په هر حال، ددغه اردو زیات شمېر افسران د لوړ امتیاز لرونکي او د پاچا د ډېرې پاملرنې وړ او د سلطنت مقام ته لېوال او په دې حال کې د دولت ساتونکي او د هر ډول ملي مقاومت ځپونکي وو، شاهي کورنۍ د همدې ډول یوه ځواك په ملاتړ هر څه چې غوښتل، هغه یې د افغانستان د ملت په اړه ترسره کړل.

## بهرنی سیاست

له ډېرشو کلونو څخه په دې خوا د نادرشاه کورنۍ د انګلوفیل(۱) یوې ډلې په توګه پېژندل شوې و، آن دا چې عبدالرحمن خان چې په خپله یې یوا ځې د انګرېزانو په پلوي یو اړخیز سیاست درلود، په څرګنده یې دغه کورنۍ انګرېزانو پورې تړلې بللې وه. د هغوی راستنېدل یې له هندوستان څخه افغانستان ته د انګرېزانو له خوا پر خپلو اوږو یو بار بللی و.
البته امیرعبدالرحمن خان ددغه نظر په لرلو سره په حقه و، دا ځکه چې هغه له انګرېزانو سره په یوه اړخیزه اړیکو لرلو کې خان اړ باله او د سیاست له پلوه که دده دغه نظر ناسم او د افغانستان په زیان هم و، خو بیا هم عبدالرحمن خان د یوه افغان په توګه او د افغانستان د پاچا په توګه دغه سیاست پر مخ بیوه، حال دا چې هغه دغه کورنۍ ته د انګرېزانو د تالي څټو او ګومارل شویو په سترګه کتل. دا ځکه چې ددغې کورنۍ نیکه سردار سلطان محمدخان طلایي د پېښور والي، د افغانستان د خپلواکۍ او

۱- انګلوفیل یعنې دانګرېزانو پلویان یا انګلیس دوست (ژ).

ځمکنۍ بشپړتیا په وړاندې د پېښور ولایت د پنجاب دولت ته ور پرېښی و او په خپله یې د رنجیت سنګه چوپړ منلی و. همدا رنګه د هغه زوی سردار یحیی خان د انګرېزانو په ګټه خپل زوم امیر محمد یعقوب خان د ګندمک د شرمونکي تړون لاسلیک کولو ته اړ کړی و. دده زامن سردار محمد آصف خان او سردار محمد یوسف خان کلونه کلونه په انګلیسي هند کې د انګرېزانو د دولت تر بیرغ لاندې او د انګرېزانو په خېر ژوند تېر کړی و. ددغو دوو سردارانو زامن یعنې سردار محمد نادر خان، د هغه ورونه او د هغه د تره زامن ټول په انګلیسي هند کې پیدا شوي وو او همالته د انګرېزانو په خېره روزل شوي وو.

د امیر حبیب الله خان په دوره کې چې دغه کورنۍ رابرسېره او وپېژندل شوه، د زیات شمېر افغاني څېرو له خوا د پردیو په توګه ورته کتل کېدل او نایب السلطنت هغوی ته د هندوستاني سردارانو نوم ورکړی و. البته هېڅ هغوی ته د امیر د لېوالتیا په وړاندې سرغړونه نشوه کولای. په امانیه دوره کې، چې ددغې کورنۍ دریځ نور هم اوچت شو، نو د دوی سیاسي څېره نوره هم بربنده شوه، دا ځکه چې د امیر حبیب الله خان د دورې برعکس، دا مهال د وزیرانو داسې یو مجلس موجود و، چې د هېواد ټول مسایل پکې تر بحث لاندې نیول کېدل او پرېکړې وربارندې کېدې او د کابینې غړو په بهرني او کورني سیاست کې خبره کوله. پاچا امان الله خان، د بهرنیو چارو وزیر او د وزیرانو د مجلس نورو ډېرو غړو په کورني سیاست کې د انقلابي ګړندیو بدلونونو غوښتنه کوله او په بهرني سیاست کې یې له انګرېزانو سره د نږدېوالي پالیسي غندله او له شوروي اتحاد سره یې اړیکې غوښتلې، خو محمد نادر خان په کورني سیاست کې محافظه کاري او په بهرني سیاست کې د انګرېز دولت خوښ ساتل غوښتل، نو په دې توګه دا څرګنده شوه، چې محمد نادر خان یوازې د انګلیس دولت پلوی دی او بس.

هغه مهال، چې د ۱۹۲۱ کال د تړون د لاسلیک کولو په خاطر له افغاني پلاوي سره په کابل کې انګلیسي پلاوی په خبرو بوخت و، د افغانستان د دولت سیاست دهېواد په ختیزو آزادو سرحداتو کې د بریتانیا د واکمنۍ په وړاندې د سرحد د خلکو د آزادۍ غوښتونکو مبارزاتو پیاوړې ساتل غوښتل او د هند د انګلیسي حکومت بوخت ساتل یې بل هدف و، تر څو د کابل په کنفرانس کې د افغانستان دریځ پیاوړی وي او انګلیسي پلاوي د خپلو غوښتنو منلو ته اړ کړي. د افغانستان دولت د خپلې دغې غوښتنې د ډاډمنتوب په خاطر په ټولو آزادو سرحداتو د سرحد له خلکو سره: او په تېره بیا په وزیرستان کې په فعالیت بوخت او عملاً یې د سرحد له خلکو سره هر ډول مرسته کوله او د دولت استازي په دغو سیمو کې بوخت وو. ددغو فعالیتونو پایله هم ډېره غوره وه. خلکو د انګرېزانو په وړاندې بریدونه کول او د هند حکومت څخه لاره ورکه شوې وه. په همداسې وخت کې د وزیرستان د مجاهدینو ستر لارښود غازي موسی خان، خپل د تره زوی دوهم موسی خان د خبرو-اترو په خاطر او ددغه لوی جهاد د اړوندو ستونزو د حل لپاره پاچا امان الله خان ته راواستاوه. دغه مهم سړي له یوې میاشتې څخه هم زیات وخت په کابل کې تېر کړ، خو محمد نادر خان پرې نښودل، چې هغه پاچا سره وکتلای شي، بلکې په لاسي ډول یې هغه له پاچا او د کابل له دربار څخه زړه توری او بېزار کړ او په دې

وول سره هغه په کرکې او ګروم سره د پاچا له لیدلو پرته وزیرستان ته بېرته ستون شو او د وزیرستان د زردرو او پیاورو خلکو هیله او مینه د کابل له دربار سره پرې شوه. په دې توګه له وزیرستان سره د کابل مرسته بنده او دوی یواځې پاتې شول او له بلې خوا د انګریزي پوځ زور او فشار د وزیرستان خلك اړ کړل، چې د بریتانیا په وړاندې بریدونه ودروي او آن دا، چې هغوی یې روغې-جوړې ته اړ کړل. دا مهال د هند انګرېزي دولت د سرحد د آزادو خلکو له فشار څخه وژغورل شو او په کابل کې د دوی پلاوي د خپلو موخو په تپلو کې لا زیات زور راوست. آیا دغه مهم کار په کابل کې د چا په لاس ترسره شو؟ البته د حربیې د وزیر محمدنادرخان په لاس، دا ځکه چې پاچا د خپلوا کۍ ګټلو تر جګړې وروسته د آزادو سرحداتو ټولې چارې او د پکتیا او ننګرهار ولایتونو سرحدي چارې په رسمي توګه د حرب د وزیر محمدنادرخان تر شخصي اداري لاندې پرېښودې، خو نادرخان په دې هکله یو بل ځانګړی سیاست پر مخ بیوه، لکه هغسې یې چې موسی خان پرې نښود، چې پاچا سره وګوري او خبرې ورسره وکړي، هغه ته یې یواځې سل روپۍ د سفرخرڅ په بڼه ورکړې او رخصت یې کړ او له کابل څخه وزیرستان ته ولاړ.

کله چې فضل محمدخان مجددي (شمس المشایخ) چې د انګرېزانو مخالف او یو وطنپال روحاني او د امان الله خان پلوی و، د نادرخان دغه ناوړه چلند او د موسی خان خپګان ولید، په بیړه یې لاندینی لیك نادرخان ته ولیك او موسی خان یې په تمه کړ.

"دروند ارجمند! نن موسی خان مسعودي ستا له حضور څخه رخصت شو او سبا ته له حکم سره سم بېرته خي. زما ګرانه وروره! په دې ډول سره د هغه ناهیلي کېدل مونږ ته لوی زیان لري، بلکې د افغانستان د اسلامي دولت سره د سرحد د خلکو اړیکې پرې او مینه یې کمېږي او هرومرو له کفارو (انګرېزانو) سره روغه کوي او د اسلام د کور دېوال د دین د دښمنانو لاس ته ورخي. د موسی په شان یو څوك دلته راخي، ډېرې ورځې تیروي او د دولت له مشر سره یې کتل ونشي او بیا په ناهیلي بېرته خي، نو په راتلونکي کې د دولت فعل او وینا ته کوم اعتبار نه پاتې کېږي. یواځې یو ځل حضور ته د هغه ورتګ او د هغه راتګ ته بنه راغلاست ویل او له هیلو څخه د ډکو خلورو خبرو اورېدل به ستاسې سیاست ته څه زیان ورسوي؟ ډېره ضروري ده، چې نوموړی ایسار شي او د والا حاضر حضور ته یې بوځئ او که چېرې دا کار ونه شو، نو خبر اوسه چې زمونږ د دولت دوه کلنې هلې-ځلې په اوبو لاهو کېږي. پاتې یو شمېر نورې چارې هم شته، چې باید د سرحدونو په هکله باید ترسره شي، چې د کتنې پر مهال به وړاندې خبرې وکړو، خو د موسی پاتې کول ډېر ضروري دي. زه په خپله راتلم، خو ناوخته و، خدای دې تاسو ته روغتیا په برخه کړي. فقط فضل محمد مجددي خواب راته ولیکئ، چې ډاډه شم. حقیر فضل محمد مجددي."

محمدنادرخان د شمس المشایخ د لیك د ځواب په وړاندې داسې ولیکل:

"جناب معظم مکرم حضرت صاحب ته اخلاص څرګندوم، د موسی خان په هکله له دې امله، چې ستاسې صاحب لیك کې د دولت د خیر غوښتنه او دور اندیشي ده، خو ستاسې جناب ته موسی خان پوره خبره نه ده کړې، دا ځکه چې ما هغه پوهولی و، چې د اعلیحضرت د مرحمت په هکله چاته څه ونه وایي، ځکه

چې بیا کفار خبریږي، که نه هغه ته د جرنیل په نامه د اته زره روپیو په اړه رقعه ورکړل شوې ده، چې ترلاسه یې کړي او مشر موسی خان ته یې ور ورسوي.
په دې وخت کې سرحد ته د چپن او بهادرۍ ورکول هم راز بربنډوي او دا دواړه څیزونه ظاهري نښې دي، نو ځکه مو له هغو څخه ډډه وکړه. خو په خپله هغه مې په ډېر ښه ډول د حضور په مرحمت وپوهاوه. مهرباني وکړئ خان پوه کړئ او له هغه څخه پوښتنې وکړئ. سره له دې هم که خوښ نه وي، نو له دې څخه زیات نه پوهېږم، چې څه وکړم؟ مرحمت وکړئ خپل علم راوړئ او ما خبر کړئ. فقط محمد نادر»
شمس المشایخ د دغه ځواب تر لوستلو وروسته یو ځل بیا په هماغه لیک کې محمدنادرخان ته لاندینۍ شرحه ولیکله!
«ګرانه وروره! خدای دې تا درونډ ولري، چپن او بهادرۍ (نښان) نه غواړي او لازمه هم نه ده، لیکن یواځې له اعلیحضرت سره کتنه او یو څلور ټکي د خوشحالۍ خبرې، چې د پاچا له خولې څخه واوري، همدغه څه د زرګونو روپیو سره برابر دي. د هغه ناهیلي یواځې او یواځې له اعلیحضرت سره نه لیدل دي. که چېرې یوه کتنه برابره شي او یواځې یوه پوښتنه یو بل سره وکړي، نو د هغه بېرته تګ به ډېر ښکلی وي او هلته د ټولو قومونو د خوښۍ وړ ګرځي. نور نو تا په خدای سپارم. فقط فضل محمد مجددي»
(د سوال او ځواب دغه اصلي لیک د شمس المشایخ په لیک او لاسلیک او په خپله د محمدنادرخان په قلم د شمس المشایخ د زوی محمد معصوم مجددي چې په میاجان یادېږي، په اسنادو کې شته. دغه لیک چې د یوې ورځې د یوې پېښې قضیه ده، نېټه نه لري.)
خو شمس المشایخ وروسته تر دغه څو ځلې لیک څخه پوه شو، چې محمدنادرخان ته په دې هکله تینګار کول بې ګټې دي، نو په بیړه یې په دې هکله په څلورو فقرو کې یو لیک په خپله پاچا ته ولیک، چې د همدې کتاب په لومړي ټوک کې په ۷۸۳ - ۷۸۹ مخونو کې (د موسی خان په هکله) راغلی دی، دلته به ددغه لیک دریېمه فقره په سرحدونو کې د دولت د سیاست په هکله رانقل کړو:
۳۰ فقره: د سرحداتو پخلا کول او د سرحدونو د قومونو د زړونو ترلاسه کول د اوس وخت یو فرض او یوه ډېره مهمه چاره ده. په هر حال، که چېرې له کفارو سره روغه جوړه یا له هغو سره محاربه په پام کې وي، نو دا دې پوري اړه لري، چې سرحدات په پټه یا ښکاره زمونږ په لاس کې وي، اګر که دا کار به ډېرو پیسو او ډېرو وسلو باندې هم شوني وي، لازم او واجب دی، دا ځکه چې سرحد د دیوال او سنګر په شان دی. کله چې دښمن کلا ته راننوځي او له دېوال او سنګر څخه راپورې وت، نو بیا د هغه په وړاندې دربدل ناشوني دي او کراري به هم ونه ګورو، څو ځلې په تجربې سره ولیدل شو، چې په مشرقي (ننګرهار ولایت) کې، چې سرحد د عسکرو ملاتړ ونه کړ، زمونږ نظامیانو او رعیت هېڅ هم ونشو کولای.»
په هر حال، محمدنادرخان او د هغه کورنۍ ددغه ډول سیاسي جریاناتو په بېلګو کې بالاخره له دولتي دندو څخه لرې او په خپله له خپلو ورونو محمدهاشم خان او شاه ولي خان سره فرانسې کې مېشته شو

او بل ورور شاه محمود خان یې په اصل کې د برمته په توګه په کابل کې اوسېده. خو محمدنادرخان هلته هم وزګار نه و ناست، هغه هلته د هند له وایسرا سره په ناسیده توګه اړیکې لرلې. محمدعلي خان دراني د شاه شجاع ابدالي له لمسیانو څخه یو هغه څوک و، چې په لاهور کې اوسېد. نوموړي د دغو اړیکو واسطه و، دغه سړي د نادرشاه د سلطنت پر مهال کابل ته راغی او د سلطنتي کورنۍ د یوه محرم په توګه یې د کابل د ادبي ټولنې مدیریت ترلاسه کړ.

هغه په خپله د شپې په یوه غونډه کې د بنګو په نشه کې ډوب و، په ویاړ سره یې دغه راز د ټولنې یو ځوان غړي ته څرګند کړ. وروسته بیا کله چې د امانیه رژیم په وړاندې بمونه په چاودلو شول او د ارتجاعي عناصرو او بهرنیو عمالو په لاس په ټول هېواد کې اړ-دوړ پیل شو، بیا هم محمدنادرخان په فرانسه کې د انګلیس له سفارت سره اړیکې ونیولې، لکه څرنګه چې په کابل کې د انګلیس مختار وزیر فریزر تتلر په ډېر ویاړ سره د افغانستان په نوم خپل کتاب کې لیکلي وو:

"نادرخان په پاریس کې (کله چې سفیر و - ۱۹۲۵) د بریتانیا له سفیر لارد کرووی سره اړیکې ټینګې کړې او په ۱۹۲۲ کې یې استعفا وکړه. محمدهاشم خان او شاه ولي ورسره یو ځای شول او د فرصت په کمین کې کېښناستل. نادرخان هغه وطنپال و، چې خپل هېواد د تعصب تر برید پورې ډېر زیات ورباندې ګران و او په دې عقیده باندې و، چې د خدای له لوري غوره شوی دی تر څو د افغانستان خلك د سولې او نیکمرغۍ خوا ته بوځي."

فریزر تتلر په همدې کتاب (افغانستان) کې یو بل ځای داسې لیکي: "نادرشاه چې د یوه ښه حکومت بنسټ کېښود، د یوه ستر اداره کوونکي د لقب مستحق دی، هغه لکه د اتاترك او ستر رضاخان په شان و... باید نادرشاه ته زیات کریدت ورکړل شي، نه یوازې د هغه څه په خاطر، چې نوموړي ترسره کړي دي، بلکې د راتلونکو پرمختیاوو په خاطر هم. مونږ ګورو، چې په څه ډول سره دده پالیسي د ... مړینې څخه وروسته پر مخ ولاړه. په ۱۹۳۱م کال کې بریتانیا لس زره ټوپك، پنځه میلیونه کالتوس او یو لك او اتیا زره پونډه نادرخان سره مرسته وکړه. نادرشاه د افغانستان له هوایي ځواکونو څخه د شوروي اتحاد پرسونل ګوښه او د روس سوداګریز پلاوي یې ونه منل."

ښاغلی تتلر د نادرشاه د ورونو په هکله خپل نیك نظر داسې څرګندوي:

"نادرشاه د خپلو ورونو د رښتیانیو مرستنو پور وړی و، په تېره بیا د والا حضرت سردار محمدهاشم خان له مرستو څخه. ددغو دوو تنو یو لاس کېدلو او ملګرتوب یوه له سخاوت ډکه او مهربانه اتوکراسي (مطلق العناني) رامنځته کړه... چې په نظامي چارو کې شاه محمود خان ورسره رښتینې مرسته کوله، حال دا چې شاه ولي خان په لندن او بیا په پاریس کې د پاچا امان الله خان د کړو وړو څارنه کوله او په اروپا کې د افغانستان د ګټو د ساتنې په فکر و."

تتلر ددغو ټولو سیاسي ستاینو او روحي تلقیناتو په سر کې د خپل کتاب په سریزه کې د صدراعظم او د ظاهرشاه د تره محمدهاشم خان په هکله داسې لیکي:

Scanned by CamScanner

دغه شهزاده نه یواځې دا، چې د یوه زور او پراخ نظر لرونکی سیاستوال دی، بلکې یو ستر جنټلمن هم دی... ظاهرشاه په ۱۹۰۳م. کال له فرانسې څخه کابل ته راغی او په ۱۹ کلنۍ کې پاچا شو. له دې امله چې ځوان و، نو ځکه ربنتینی واك دده د ترونو په لاس کې پاتې شو. په داسې یو مهال کې والا حضرت محمد هاشم خان صدراعظم پوره څوارلس کاله د افغانستان ربنتینی واکمن و. نوموړی له خپل خان سره داسې لیاقت، صفتونه، سیاستولي او اداره راوړه، چې د هېواد لپاره یې دوام لرونکی ارزښت درلود... هغه لکه د نادرخان په شان یوه ستره څېره وه، خو په یوه بله بڼه. په حقیقت کې هغه د یرې ګواښوونکې دندې لایق و، چې په ۱۹۳۳م. کال کې ورته وسپارل شوه.»(وګورئ: د فریزر تتلر افغانستان نومې کتاب ۲۴۰ - ۲۴۴مخونه)

تتلر باید د نادرشاه کورنۍ همداسې ستایلی وای، دا ځکه چې همدغې کورنۍ په ډېره ښه بڼه د آسیا په دغه برخه کې د انګلیس ګټې ډاډمنې او خوندي کړې.

په دې توګه په دغه ډول سیاسي سوابقو سره، چې کله د افغانستان سلطنت نادرشاه او د هغه وروڼو ته ورسېد، نو په طبیعي توګه د هېواد بهرني سیاست، یو په انګرېز باندې متکي یو اړخیز سیاست و، چې د سیاست د دروغجن نقاب لاندې یو خپلواك او ناپېیلي سیاست بلل کېده. دا یواځې نه و، بلکې په کورني سیاست کې هم د افغانستان د اداري او ټولنیزو چارو بنسټیز ټکی د انګلیس د دولت له سیده او ناسیده دیکتې څخه اغېزمن و، چې پایلې یې په افغاني ټولنه کې څرګندېږي. آن دا، چې په کابل کې داسې هم ویل کېدل، چې د افغانستان سلطنت له انګلیسانو سره په پټه په لندن کې یو تړون کړی دی، چې د هغې له مخې انګرېزانو (د اړتیا پر مهال) یو شمېر سیاسي او نظامي امتیازات ترلاسه کړي دي. ددغو انګازو د رد کولو په خاطر نادرشاه اړ شو، چې په ۱۹۳۱م. کال کې په خپله (د ۱۳۱۰ل کال) هسې په نامه د ملي شورا په پرانیسته کې داسې توضیحات ورکړي:

«په افغانستان کې زما سیاست کوم سر او راز نه لري او هغه یو څرګند سیاست دی. ټول هغه تړونونه، چې پخواني حکومت له دوستو هېوادونو سره کړي وو، هغه یې تصدیق کړل، بل هېڅ کوم پټ یا ښکاره تړون یې نه دی کړی. البته تېر کال (۱۳۰۹ل.) کې یو شمېر هېوادونو مونږ سره مرستې وکړې، د بېلګې په توګه د بریتانیا حکومت پرته له کوم شرط څخه له افغانستان سره مرسته وکړه. دغو مرستو کې یو لك او پېنځه اویا زره بې سوده پور، لس زره ټوپکونه او پنځوس لکه کالتوس وو...

هغه ډېر ګټور سیاست، چې په افغانستان کې یې فکر کېږي او زه تل د هغه سپارښت کوم، هغه دا دی، چې: د افغانستان جغرافیاوي موقعیت هېڅکله پټ سیاستونه نشي زغملای... (وګورئ: د کابل چاپ د اصلاح دولتي جریدې د ۱۳۱۰ل. کال د چنګابن د ۱۲مې نېټې ۹۳مه ګڼه.)»

نادرشاه د ناپېیلتوب د ښودلو په خاطر له بېلابېلو هېوادونو سره یو شمېر تړونونه لاسلیك کړل. د همدې (۱۹۳۱م.) کال په جون کې په کابل کې له شوروي اتحاد سره د نه تیري او ناپېیلتوب تړون لاسلیك شو او د ۱۹۳۲م. کال په سپتمبر کې د دواړو هېوادونو تر منځ د سرحدي کمیسارانو د ټاکلو موافقه لیك لاسلیك شو. په داسې حال کې، چې له دې څخه یو کال مخکې (۱۹۳۰م) په لندن کې د شاه

Scanned by CamScanner

ولي خان او مستر ارتر هندرسن تر منځ د دوستی تړون د ۱۹۳۰م. کال د نومبر په نولسمه په لندن کې يو بل ته وسپارل شو. په ۱۹۳۳م. کال د افغانستان او برازيل هېوادونو تر منځ په انقره کې د دواړو هېوادونو د سفيرانو په لاس تړونونه يو بل ته وسپارل شول. په همدې ۱۹۳۳م. کال د افغانستان استونيا او ليتوانيا تر منځ تړون په مسکو کې د افغانستان د سفيرعبدالحسين خان عزيز له خوا لاسليك شو. په ۱۹۳۴م. کې له مجارستان سره يو تړون لاسليك شو. د ۱۹۳۲م. کال په مارچ کې د امريکې له متحده ايالاتو سره او د ۱۹۳۹م. کال په جولاي کې د هالند له دولت سره تړونونه لاسليك شول.

په داسې حال کې، چې له سعودي عربستان سره لا د مخه د ۱۹۳۲م. کال په مۍ کې او له عراق سره د ۱۹۳۲م. کال په دسمبر کې د دوستۍ تړونونه لاسليك شوي وو. په ۱۹۳۳م. کال کې د ايران او افغانستان تر منځ اړيکې د (موسی آباد) په نامه په افغاني خاورې باندې د ايران د ادعا له کبله، چې دغه ټوټه ځمکه د افغانستان په لاس کې وه، خړې پړې شوې. د افغانستان د بهرنيو چارو وزير فيض محمد زکريا او په کابل کې د ايران سفير تقي اسفندياري په پای کې د ۱۳۱۲ل. کال د کب په اوولسمه نېټه يو ۱۴ توکيز تړون وکېښ، چې د هغه له مخې يو درېمګړی ومنل شو. په دې توګه د ترکيې دولت د (حکم) په توګه غوره شو. خو ولې دغه ستونزه د افغانستان او ايران تر منځ را پاتې وه؟ دا ځکه چې په ۱۸۹۱م. کال کې د ايران او افغانستان تر منځ پوله د جنرال مکلين انګليسي له خوا دهشتادان د سيمې تر يوې برخې پورې روښانه او وروسته له هغې څخه قصداً ناڅرګنده پاتې شوه تر څو د دوو ګاونډيو هېوادونو تر منځ د شخړې يوه ماده همداسې پاتې وي.

د نادرشاه سلطنت ، چې د شوروي هوايي کار کوونکي ګوښه کړي وو او د دغه هېواد د سوداګرۍ پلاوی يې افغانستان ته د راتګ لپاره نه و منلی، نه يې شو کولای، چې انګرېزانو ته په څرګند ډول داسې يو ښه والی غوره کړي، نو ځکه يې د اړتيا له مخې لويو لويديځ هېوادونو ته مخ واړاوه، له فرانسې، جرمني، ايتاليا او د ترکيې له هېوادونو څخه يې کسان وګومارل. ترکانو نه يواځې دا، چې د روغتيا او نظامي چارو په برخه کې مرستې کولې، بلکې د هېواد په سياسي چارو کې يې هم د باور وړ مشاورينو حيثيت ترلاسه کړی و.

تر دې ځای پورې مو د نادرشاه د سلطنت د دورې د افغانستان د بهرني سياست برسيرن اړخ څرګند کړ، حال دا چې د دغه سياست پټ اړخ د انګليس د ډيپلوماسۍ په مدار کې و، چې ورځ تر ورځې يې کړۍ راتنګېده، يعنې د دايرې مرکز ته رانږدې کېده او انګرېزانو هم د هغو په پټولو او پوښلو کې چندان ټينګار نه کاوه. د انګرېزانو عمالو لکه الله نواز ملتاني او عبدالله شاه جي او نورو په څرګنده توګه د هېواد په سياسي ډګر کې ځان راڅرګند او نخرې يې کولې. آن دا چې داسې هڅې هم پيل کېدې، چې د پخوانۍ يوې پېړۍ په سرچپه، د انګليس عمال او برېڅي نور د انتي برتش (انګليسي ضد. ژ.) ډغرې ونه وهي، دا ځکه چې په نويو موجودو سياسي شرايطو کې کومه اړتيا نه تر سترګو کېده، چې يو برتانوي عامل په افغانستان کې د لاسوهنې لپاره له انګليس سره د دښمن نقاب پر مخ راوځړوي، بلکې د افغانستان

Scanned by CamScanner

په ښارونو او رسمي غونډو کې ورو ورو په افغانستان، ختیځ او ټوله نړۍ کې د انګلیس د واك او ځواك خبرې کېدې. ددغو خلکو دلیل دا و، چې له انګلیس سره د مخالفت له امله به افغانستان خراب شي، نو ځکه یې انګلیس ته د افغانستان بې شرطه تسلیم کېدل د هېواد سلامتي بلله.

سلطنت هم له انګرېزانو سره هر ډول دښمني او مخالفت له دولت سره دښمني او مخالفت باله. البته د افغانستان د واکمنۍ کورنۍ او انګرېزي عمالو دغه له کبر څخه ډك چلند او بې باکۍ د خلکو په تېره بیا د روڼ اندو په زړونو کې د کرکې او کسات لمبې بلولې او دغه لمبې په پای کې د افغاني وطنپالو د تومانچې په غږ کې راپورته شوې.

ملتاني ژباړونکي الله نواز د افغانستان د ډیپلوماسۍ د اسرارو د صندوق ښه غوره کړې وه او پنجابي ګاډیوان قربان حسین (شاه جي) د هېواد دکورنیو او بهرنیو استخباراتو واك درلود. نور نو د بهرنیو چارو وزیر فیض محمد خان زکریا، د معارف وزیر علي محمد خان، د ضبط احوالات رییس مرزا محمد شاه او نور هسې په دوهمه برخه کې د لاس آلې وې، چې ددغو دوو تنو تر شا روان وو. آن دا، چې د افغانستان صدراعظم محمد هاشم، چې ځان څخه یې د واورو زمری جوړ کړی و، د هغه پخواني ګاډیوان (سید عبدالله شاه جي) له ګوابن څخه د ولې د پانې په څېر رېږدېد. د بېلګې په توګه په ۱۳۱۲ کال کې د کابل د پولیسو قومندان طره باز خان د کابل د سرای موتي د زندان د سیاسي بندیانو د څارنې پر مهال د یوه بندي د پوښتنې په ځواب کې په اوچت غږ ناري کړې.

تړۍ پوهېږې، چې د بریتانیا دولت بانسه ده او افغانستان یوه چنچنه ده، تاسې ددغې بانسې په وړاندې بې احترامي کړې ده، نو ځکه د کلکې سزا وړ یاست، تاسې څنګه له دولت څخه د اسانۍ غوښتنه کوئ؟

له بلې خوا د نادرشاه حکومت له شوروي اتحاد سره د افغانستان سیاسي اړیکې په لاسي توګه خړې پړې کولې، په تېره بیا د ابراهیم بېګ لقي تر پېښې وروسته له شوروي دولت سره د افغانستان سوړوالی دومره برید ته ورسېد، چې نور نو د زغم وړ نه و او دواړو هېوادونو قونسلګرۍ وتړل شوې، وروسته بیا د شوروي دولت له مسکو څخه افغاني سفیر عبدالحسین عزیز، ځکه رد کړ، چې هغه د شوروي او جاپان تر منځ د اړیکو ګډوډېدل هڅولي و.

همداسې هم انګلیسي عمالو د سلطنت په وړاندې داسې یو ناوړه نظر راپیدا کړی و، چې ګواکې د روسیې د سوسیالستی رژیم بقا او دوام د بریتانیا د یوه اغېزمن سیاست مولود او زېږنده ده، تر څو په دغه هېواد کې یوه پیاوړې پانګواله پرمختللې امپراتوري رامنځته نه شي او د خطر پر مهال بریتانیا وکولای شي په روسیه کې دننه چاودونه وکړي او سوسیالستی رژیم له منځه یوسي. البته په افغانستان کې دانګلیس دغه تلقین په دې خاطر و، چې د افغانستان سلطنت یوازې په خپل ځان پورې وتړي، نو د ظاهري تشریفاتو او ډیپلوماسۍ سره سره د افغانستان او شوروي اړیکې په ډېرې بې باورۍ او سړه ښه روانې وې.

Scanned by CamScanner

## کورنۍ سیاست

نادرشاه په ظاهري توګه خپل دولت (مشروط شاهي) اعلان او د ۱۹۳۱م. کال د اکتوبر په ۳۱مه یې یونوی قانون د یوې انتصابي جرګې له تصویب څخه تېر کړ او د ۱۹۳۲م. کال د اګست په ۲۴مه یې د ملکي تشکیل یو نوی قانون تصویب کړ، حال دا چې لا پخوا یې په ۱۹۳۰م. کال کې یوه عجیبه ملي شورا خپله جوړه کړې وه. نادرشاه د امانیه دورې ټول قوانین لغوه کړل، نور نو نه د عمومي جزا کوم قانون و او نه هم د عسکري جزا کوم قانون. دغه نوي قوانین، چې نادرشاه په خپله د اصولنامې په نوم جوړول دومره نمایشي او غولوونکي وو، چې آن کابینې د هغو لوستلو ته کومه اړتیا نه لیدله، دا څکه چې په عمل کې د سلطنت چلند د همدغو اصولنامو په خلاف و، د بېلګې په توګه:

## جرګه

نادرشاه د خپل رژیم د اصلي څېرې د پټولو په خاطر د کارونو بنسټ په نامه د ول کېښود او د سلطنت په هماغه پیل (د ۱۹۲۹م. اکتوبر) کې یې خپله تګلاره د مذهب او شریعت او د صنعت، کرنې او سوداګرۍ او نورو چارو د پرمختګ پر بنسټ اعلان کړې و (وګورئ: دهمدې کتاب مخکنۍ پاڼې) ورپسې یې د ۱۹۳۰م. کال د سپتمبر په میاشت کې د افغانستان له ولایتونو څخه ۳۰۱تنه فرمایشي استازي راټول او یوه جرګه یې جوړه کړه او ۲۰۹ تنه د دولت رسمي مامورین او نظامي افسران یې پکې ورګډ کړل او د بهرنیو دیپلوماتیکو استازیو ۱۸ تنه یې هم د اورېدونکو په توګه جرګې کې ومنل، حال دا چې د جرګې زیات شمېر غړي روحانیون، لوی څمکوال او د دولت ګومارلي مامورین وو. جرګه د دولت په لاس کې او د مذهب په نوم د یو شمېر تالي څټو ملایانو په لاس کې وه، تر څو هره هغه خبره چې پاچا او کورنۍ یې وایي هغه تصویب کړي. پاچا د استازیو د جرګې له پرانیستلو څخه مخکې د جرګې غړي په رسمي میلمستیاوو بوخت کړل او تر تلقین لاندې یې راوستل، بیا یې هر یوه ته یوه چپن او یوه یوه لونګۍ ورکړل او بیا یې غونډه په رسمي توګه پرانیستله. ددغې جرګې موخې دوه وې: یو یې د هغو مترقي تصاویبو باطلول وو، چې د ۱۳۰۷ل. کال په انتخابي جرګه کې په پغمان کې قانوني شوي وو، لکه: د مامورینو د رسمي لباس او القابو لغوه کول، د دولت په خدمت کې د داخلېدو پر مهال د مامور د شتمنیو ټاکنه او د خپلو شخصي لګښتونو حساب ورکول. د ګومارنې قانون، د قاضیانو او حاکمانو د اختیاراتو تجدید، د عمومي تفتیش د یوې ادارې جوړول، د پخوانۍ تدوین شوي قانون پر بنسټ د سزا ټاکل او د نغدي سزا ټاکل، د عصري او د مدني محکمو جوړول، د مطبوعاتو او انتقاد آزادي، د صغیره نکاح لغوه کول او د واده د عمر ټاکل، د ښځو د حجاب له منځه وړلو ازادي، د ملایانو د ګومارلو لپاره د شهادتنامې لرل، د ملي بیرغ د نښې بدلون، د باسواده ۱۵۰ کسیزې ملي شورا جوړول او نورو لغوه کول.

د جرګې بله دوهمه موخه دا وه، چې جرګه د ملت په نوم د امان الله خان په وړاندې ودروي، نو څکه یې له یوې خوا د پغمان د جرګې قانوني پرېکړې باطلې کړې، له بلې خوا یې د پاچا امان الله خان په ضد

پېنځمه ګڼه فیصله وکړه، چې پاچا امان الله له نادرشاه څخه د خپل عین المال غوښتنه کړې وه. د ۱۳۰۹ل. کال د وږي د میاشتې د ۲۲مې نېټې په دغې پرېکړې کې پاچا امان الله خان د ملت د خاین او افغانستان د ښمنۍ د غله په نوم ونومول شو او د هغه وړل شوې شتمنې بېرته ورڅخه وغوښتل شوه او د دغې شتمنۍ د بېرته اخیستو لپاره نادرشاه د وکیل په توګه غوره شو. (وګورئ: "تردید شایعات باطله شاه مخلوع" کتاب او د ۱۳۱۰ل. کال د وږي د میاشتې چاپ د ۱۳۰۹ کال د جرګې پېنځمه ګڼه پرېکړه،) د جرګې دغه پرېکړه د هغو لیکونو پر بنسټ وشوه، چې د نادرشاه او پاچا امان الله خان تر منځ لېږل رالېږل شوي وو.

ګله، چې پاچا امان الله خان افغانستان پرېښود او په ایتالیا کې مېشت شو، د لومړي ځل لپاره یې کتل، چې د یوې کورنۍ ژوند پیسو ته اړتیا لري او د پیسو پیدا کول کار ته اړتیا لري، نو ځکه هغه چې یو ختیزوال شهزاده و، پریشانه شو او په خپل لاس کې ورسره د شته شتمنیو د لګښت له امله په وېره کې شو، نو په دې حالت کې یې له خپل معنوي دریځ څخه تنزل وکړ او خپل مخالف حکومت ته یې لاس اوږد کړ او په لندن کې یې د پاچا ورور او خپل اوښي او مختار وزیر شاه ولي خان ته دغه خصوصي لیک واستاو:

"زما ګرانه وروره! شاه جانه (شاه ولیخان) الحمدلله ټول روغ یاستو، له خدای څخه غواړم، چې ته روغ اوسې. د څه مودې راهیسې چې له تاسو څخه او د پلار د ژوند له ثمر (ثمر السراج د شاه ولي خان ښځه) څخه کوم لیك نه دی راغلی، په دغه یو اخیتوب کې ډېر خوشحاله کېږم، چې د یوه دوست لیك راشي، بله کومه هیله نه لرم. له دې امله چې زما ټوله شتمني، زما د کورنۍ د اعاشې لپاره نه بس کېږي، له تاسې څخه غواړم، چې ژر را ته معلومه کړئ، چې زما شتمني او عین المال او د ثریا (د امان الله خان د ملکې) جایداد په کابل کې څوك اداره کوي او مونږ ته به په څه ډول سره راورسېږي؟ او زمونږ ګران ورور نادرشاه څه خیال لري، چې زه پوه شم او له دغه تکلیف څخه چې هره ورځ خپله شتمني خورم خلاص شم. پاتې په هر حال د خپل هېواد ترقي غواړم، د ثمر السراج او د هغې د ماشومانو سترګې مچ کړئ. تاسې په خدای سپارم." (باید ووېل شي، چې امان الله خان د مخه خپلې شخصي ځمکې او د ملکې جایداد دولت ته سپارلي وو او د کابل د وړی، اوبدلو او څرمن جوړولو فابریکې یې د عین المال په نامه ځانته اخیستې وې.)

له دې امله چې پاچا امان الله خان له شاه ولي خان څخه کوم پرېکنده ځواب ترلاسه نه کړ، نو د ۱۳۰۹ل. کال د غبرګولي په ۲۸مه نېټه یې لاندینی تلګرام په سیده توګه نادرشاه ته راواستاوه: "د اعلیحضرت غازي حضور ته! زما او د ثریا مال، ملکیت او عین المال فابریکې او زما د اولادونو شتمني د چا په لاس کې ده او هغه څوك اداره کوي؟ آیا حکومت څه نظر لري؟ امان الله- روم"

نادرشاه د حکومت په واسطه لاندینی ځواب د پاچا امان الله خان په نوم واستاوه:

"اعلیحضرت غازي شهریار په خپله پوهېږي، چې د عین المال په نوم دغه پیسې د بیت المال له شتمنۍ څخه ورو ورو ورځ په ورځ جلا کېدې او ځانګړو برخو کې لګول کېدې. د خپل پاچا کېدو په پیل کې مو

Scanned by CamScanner

فرمان صادر کړي و، چې د دغې شتمنۍ اصلي سرچينه دې بېرته اعاده شي. يعنې له دې امله، چې دغه شتمني د بيت المال مال و، نو ځکه بېرته بيت المال ته ولېږدول شوه.

(وګورئ: د اصلاح د دولتي جريدې د ۱۳۰۹ ل. کال د تلې لومړۍ نېټه ۱۲مه ګڼه) البته نادرشاه د پاچا امان الله خان له دغه تنزل څخه ناوړه استفاده وکړه، د نوموړي دغه ليکونه يې هسې په نامه جرګې کې را مخې ته کړل او هغه يې رد کړل. له دې امله چې امان الله خان عين المال په نوم خپلې دغې غوښتنې کې په حقه نه و، دې کې کومه خبره نشته، دا ځکه چې په افغانستان کې هېڅ يوه پاچا شخصي شتمني نه لرله، بلکې هر څه يې عين المال خپل بللي وو او هغه بيا د ملت مال و. نو امان الله خان هم له دې ډلې څخه مستثنا نه و، خو دا حق يې درلود، چې په يوه پردي هېواد کې د هغو ټولو ډېرو غوره خدماتو له امله چې افغانستان ته يې کړي وو او بيا د کورنيو خاينانو او بهرنيو توطيو او دښمنانو له لاسه ووت، نو بايد د افغانستان له بيت المال څخه اعاشه شوی وای.

خو دا چې د هغه په هکله داسې ويل کېدل، چې ګوا کې هغه د ملت د خزانې نقدې او ګاڼې وړې دي، د نه منلو ده، دا ځکه چې نوموړی په ناڅاپي توګه په اضطراري حالت کې له هېواد څخه ووت او د خزانې د لوټ کولو وخت يې نه درلود، ډېر لږ څه به يې ځان سره وړي وي. په ايټاليا کې د هغه را تلونکي ژوند او پيسو ته د هغه ډېره کلکه اړتيا په خپله دا څرګندوي، چې هغه مجبور شوی و، چې د خپلې کورنۍ د اعاشې لپاره په کار کولو پيل وکړي، پيرودل او پلورل يې کول او د خپلې کورنۍ خوراک او پوښاک يې په خپله له عمومي بازار څخه په يوه بايسکل باندې کور ته راوړل. که داسې نه وای، نو هغه د څو دالره مياشتني معاش لپاره ولې ظاهرشاه ته د بيعت ليک استاوه او د خپل مخالف صفت يې کاوه او د خون شريکۍ او جېلوۍ خبره يې کوله او د موجوده- رژيم د استبداد او د ارتجاع په ضد ملي مبارزې څخه يې د لاس اخيستو ژمنه کوله؟ (وګورئ: د وصول بيعت نامه امان الله خان شاه مخلوع و اعطای حق تابعيت افغانی به ايشان تر عنوان لاندې د اصلاح د دولتي جريدې د ۱۹۴۸م. کال د نوامبر ۱۸مې (د ۱۳۲۷ل. کال د لړم دوهمې) نېټې ګڼه، چې د امان الله خان بيعت ليک پکې راغلی دی.)

که چېرې امان الله خان کومه اندازه نغدې او ګاڼې غلا کړې وای، نو د هغه له مړينې وروسته به د هغه اولادونو هم لکه د نادرخان د کورنۍ په شان د اروپا په بانکونو کې په ميليونونو ډالره لرل. نو ښکاري، چې ددغو تورونو او د پاچا د بدنامولو علت همدا يو لامل درلود، چې د امان الله نوم بايد بد شي. خو د پاچا امان الله خان تيروتنې، ضعف او غلطي بايد د هغه د پاچاهي پر مهال په نورو ځايونو کې وګورو لکه:

پاچا امان الله خان په لږ عمر او کمې تجربې سره (هغه ۲۷ کلن و، چې پاچا شو او ۳۷ کلن و، چې مستعفي شو) او يو شمېر تېروتنو سره سره يو آزادي غوښتونکی و، چې په ختيځ کې يې د انګليس د استعمار په وړاندې د مخالفت جنډه اوچته کړه او په افغانستان کې يې د عصري ټولنيزو پرمختګونو بنسټ کېښود. البته د انګليس استعمار او بهرني او کورني عمال د هغه لومړۍ درجه دښمنان وو او د هغه په وړاندې يې د نامردانه پروپاګنډو او بريدونو څخه ډډه نه کوله.

په دې توګه امان الله خان تر څو چې ژوندی و د افغانستان دننه او بهر د دښمن تر ګوزار لاندې و، تر څو چې په مادي او معنوي توګه له منځه یووړل شو. مګر آیا زمان شاه او تیمور او دوی ته ورته نورو له امان الله خان څخه ښه حال درلود؟ امان الله خان په افغانستان کې دننه د انګرېزانو د پټو عمالو په لاس او دسیسو وښویول شو او له افغانستان څخه بهر د دښمن تر ځارنې لاندې راغلی و. هغه یو ځل مسموم (زهر ورکړل شول) او بل ځل له مالي پلوه زیانمن کړل شو تر څو، چې خپله موازنه یې له لاسه ورکړه او ظاهر شاه ته یې خپل بیعت واستاوه او له مبارزې څخه یې لاس واخیست په تېره بیا هغه مهال، چې انګرېزانو هندوستان پرېښود او افغانستان او پښتونستان دې ته چمتو وو، چې امان الله خان ته هر کلی ووایي او دهغه نوم په پاکستان او هند کې د خلکو په ژبو باندې و، خو کله چې هغه د ظاهرشاه سلطنت ته تسلیم شو، نو په بهر کې د افغاني مبارزینو او وطنپالو سیاسي شتون پای ته ورسېده او په هېواد کې دننه پاتې نور روڼ اندي ډاډه شول، چې د ملي او مترقي مبارزو په ترڅ کې په شاه او شهزاده او اشرافي طبقه باندې ډېره لګول تېروتنه ده. رېښتینې مبارزه هغه ده، چې د ټولنې له خوا او د ټیټ قشر له لوري پیل شي.

خو نادرشاه د امان الله خان د هغې تېروتنې له امله، چې د عین المال په نوم یې د شتمنۍ غوښتنه د خپل شخصي ژوند لپاره کوله په یوه فیوډالي جرګه کې هغه وټکاوه، فرصت یې له لاسه ورنه کړ او د امان الله خان له دغې تېروتنې څخه یې ګټه پورته کړه او د هېواد دننه یې د ټول وطنپال مبارز قشر د ټکولو لپاره ورڅخه کار واخیست او د دین، دولت او ملت د خاین په توګه یې د (امانیست) نوم وکاراوه او هر هغه څوک، چې ده غوښتل هغه یې په همدې نوم په زندان کې واچاوه او یا یې غرغرې ته واستاوه.

نادرشاه له پاچا امان الله خان سره په دښمنۍ کې دومره تعصب او کرکې څخه کار واخیست، چې د اماني او امانیه لیسو او د دارالامان د ودانۍ نومونه یې په نجات، استقلال او دارالفنون باندې واړول او آن د امان الله خان د ترانې (الهنا یا ربنا انصرلنا امیرنا امیرالافغان امان الله خان...) او د هغه عکسونه یې په ټول هېواد کې راټول او هغه یې له منځه یووړل. نادرشاه، چې د امان الله خان د عین المال کلمه د ملي خیانت په بڼه وشمېرله، له همدغه مذموم عین المال څخه یې د ملکه ثریا ټولې کرنېزې ځمکې، چې د کابل په تنګي سیدان کې وې، خپل ورور د حربیې وزیر شاه محمود خان ته ورکړې او دغسې یې د یو شمېر اشخاصو او دولت نور بڼونه، ځمکې او ودانۍ په کابل، پغمان او جلال آباد کې د خپلې کورنۍ غړو ته ورکړې وې. او هر یوه یې په سلګونه میلیونه ډالر او افغانۍ د هېواد بهر او دننه (شخصي عین المال) لري، آن دا چې د سلطنتي ارګ بڼ هم دغې (د عین المال دښمني) کورنۍ په خپلومنځو کې وویش او ترکه یې کړ او محمدهاشم خان، شاه ولي خان، محمد نعیم خان، محمدداود او اسدالله خان وپېرودل او په پلورلو یې بوخت شول. د کابل د شهرآرا بڼ محمدهاشم خان ته وروبخښل شو... له همدې امله به خلکو ویل: دغه واکمنه کورنۍ دا حق نه لري، چې پاچا امان الله خان د شخصي عین المال د لرلو له کبله تکفیر کړي، بلکې که چېرې په افغانستان کې دا ډول کوم حق لري، هغه یې یو ملي انقلابي رژیم لرلای شي، نه اوسنی رژیم، چې په خپله تر دوو غوړونو پورې د خیانت او جنایت په ډنډ کې ډوب دی.

Scanned by CamScanner

## ملي "شورا

مخکې په ۱۳۰۷ کال کې د پغمان په زر کسیزه لویه جرګه کې د امان الله خان په دوران کې داسې پرېکړه وشوه، چې د افغانستان له سواد لرونکو څخه به د انتخابي وکیلانو یوه ۱۵۰ کسیزه جرګه جوړه شي او ددغې جرګې وکیلان به نشي کولای، چې په خپله د وکیل په توګه په نوې جرګه یا شورا کې غړیتوب ترلاسه کړي. په همدې کال کې د اړ-دوړ اور بل شو او امانیه دولت راوپرځېد. په دې توګه ددغې لویې جرګې پرېکړې هم داسې پاتې شوې، نادرشاه نه یواځې د نمایش په خاطر، بلکې یوې تشې په نوم جرګې باندې د خپلو پرېکړو د مسئولیت د اچولو په خاطر د شورا جوړولو ته ملا وتړله. خو د منتخب وکیل لپاره یې د سواد لرلو قید او شرط لرې کړ، د هغه پر ځای یې د شرعي وثیقې لرل غوره کړل، یعني پټه رایه، د رایې اچولو صندوق او د کاندیدانو زیاتوالي ته یې اهمیت ورنه کړ، نو څکه هر هغه خان، ملا او مخور چې دولت غوښت، په سیمه کې به یې خانته شرعي محکمې ته راوستل او د علني اقرار له مخې به یې وکیل کړ او شرعي وثیقه به ورته ورکړل شوه، نو له همدې امله ددغې وکیلانو شمېر ۱۱۱ تنه شول، چې سیمه ییز تبعیض پکې تر سترګو کېد. د بېلګې په توګه د کندهار له ولایت څخه ۱۲ تنه، له هرات څخه ۱۲ تنه او د مزار شریف لوی ولایت څخه ۱۰ تنه وټاکل شول او-هم داسې پسې د هېواد له نورو سیمو څخه. حال دا، چې ددغو سیمو اټکلي نفوس هم په پام کې نه و نیول شوی. ددغو شرایطو سره سره بیا هم د هسې په نامه شورا مشر په ښکاره توګه د پاچا په لاس کېنول شو او په وکیلانو تحمیل شو.

په هر حال نادرشاه په کابل کې د ۳۰۱ غړو لرونکې جرګې له جوړولو وروسته (د ۱۹۳۰م. په سپتمبر کې) د ملي شورا غړي هم د جرګې له غړو څخه غوره کړل او د ۱۳۰۹ل. کال د وږي د میاشتې په ترڅ کې یې شورا پرانیستله. ددغې شورا مشر مخکې له مخکې د باچا له خوا د وردګ استازی عبدالاحدخان ماهیار ټاکل شوی و. (نوموړی هغه څوک و، چې د خپلې مړینې تر ورځې پورې د ملي شورا رییس پاتې شو.) د کندهار وکیل عبدالعزیز خان (چې په امانیه دوره کې د طلوع افغان مدیر و) د انتصابي رییس عبدالاحد خان په مخالفت کې یوه وینا وکړه او د رییس ټاکل یې د وکیلانو حق وباله. نه دا، چې د دولت له خوا په خلکو وتپل شي. په همدې جرم باندې دغه درونډ سړی سیاسي زندان ته واچول شو او هلته دیارلس کاله پاتې شو. زیره یې په بند کې سپینه او د سترګو لید یې کم شو. هغه پرته له میرمنې او یوې لور څخه نور څوک نه لرل. لور یې له یوه هندوستاني ډاکتر سره واده وکړ، چې ښځه یې په ډېرې خواشینۍ کې یواځې پاتې وه. د صدراعظم محمدهاشم خان په فرمان دکابل امنیه قومندان طره باز خان ورته د پلار ښکنځلې وکړې او امر یې وکړ، چې د موتي په زندان کې یې له لاسونو څخه ونیسي اومخ یې سپاهیانو په وهلو وهلو وپړساوه (زه لیکوال په خپله هم بندي وم او دغه پېښه مې ولیدله). خو ددې ټولو سره سره نیمایي پېړۍ د نادرشاه په قبر باندې د لومړنۍ شورا د مؤسس په توګه هر کال په اجباري ډول ګلان اېښودل کېدل.

نادرشاه دغه مکروه او عجیب الخلقه مولود یا شورا هم آزاده نه پرېښوده یو کال وروسته یې په ۱۹۳۱م. (۱۳۱۰ل.) کې د هغې په وړاندې د مشرانو جرګه جوړه کړه. دغې جرګې ۲۷ تنه غړي لرل، چې ټول انتصابي وو او په خپله د پاچا له لوري له ځمکوالو روحانیونو او اشرافو څخه غوره کېدل. د دولت پیشنهادي لوایح به ددغه مجلس له پرېکړې څخه وروسته شورا ته تلل او د شورا پرېکړې، مشرانو جرګې رد کولای شوې. د شورا او د مشرانو د جرګې د اختلاف په صورت کې د پاچا حکم قطعي و. یعنې مجلس اعیان یا د مشرانو جرګه د هسې په نوم شورا خنثی کولو لپاره وه.

## اساسي قانون

نادرشاه د ۱۹۳۱م. (۱۳۱۰م ل) کال په اکتوبر کې یو نوې (اصولنامه اساسي) جوړ کړ. په دغه قانون کې هڅه شوې وه، چې د بهرنیو په سترګو کې سلطنت د «مشروطیت» په بڼه ښکاره شي، د بېلګې په توګه د افغاني اتباعو د مساواتو په برخه کې په نهم توک کې مساوات پرته د دین او مذهب له توپیر څخه ښودل شوي وو، په یوولسم توک کې د شخصیه حریت مصئونیت او دا، چې هېڅوک پرته له شرعي حکم څخه او پرته د اصولنامې له حکم څخه مجازات او توقیف کېدای نه شي، راغلی و. په دیارلسم توک کې هم د ټولو خلکو برابری د مملکتي دندو او د حکومتي ګومارلو په هکله ښودل شوی و. په شپاړسم توک کې د خای او اوسېدلو د مصئونیت په هکله راغلی و. په اوولسم، اتلسم او نولسم توک کې د مالونو او املاکو ضبط، مصادره، بیګار، کراو او نورې سزاوې تحریم شوې وې او په درویشتم توک کې مطبوعاتي ازادي ښودل شوې وه، خو په دې شرط چې د مذهب مخالف نه وي. په پای کې په ۷۲ توک کې د ملي شورا په وړاندې د وزیرانو مسئولیت ښودل شوی و. د قانون دغه نمایش البته د واکمنې کورنۍ د درواغو او چلوټو وروستۍ بڼه وه او د نادرشاه تر مړینې پورې د هغه یو توک هم عملي نه شو، آن دا چې وزیران هم د دغه قانون له منځپانګې څخه نه وو خبر او نه پرې پوهېدل. ددغه قانون توکونه په تحویلخانو کې واچول شول، چې د هېڅ افغاني تبعه، مامور او افسر په لاس کې نه و. د نادرشاه د څلورو کلونو په سلطنت کې د هغه د وزیرانو له غونډې څخه یوه پرېکړه هم نه ترلاسه کېږي او نه هم د هغه تحکومت له ادارو څخه کومه داسې پرېکړه ترلاسه کېږي، چې په هغو کې اساسي قانون ته کومه نغوته شوې وي، دا څکه چې ټول خلک پوهېدل، چې دغه اساسي قانون د چاپ او بهرنیو هېوادونو ته د ژباړې په خاطر رامنځته شوی دی، نه د افغانستان دننه د چارو د ترسه کولو لپاره خلکو کتل، چې موجوده سلطنت پخواني ټول مدني او جزایي قوانین لغوه کړل او زندانونه یې له بې محاکمې بندیانو څخه ډک کړل، د څو ورځو په ترڅ کې د خلکو شتمني ضبط، کورونه لوټ، نارینه غرغره او ښځې بندیانې شوې او په هېواد کې هېڅ کوم عصري یا هم اسلامي قانون نشته. د افغانستان قانون یوازې د واکمنو ورونو شونډې دي او بس.

## دربار

Scanned by CamScanner

د افغانستان د دغسې یوې بې غږوندي ادارې په سر کې دربار و. هغه دربار چې خان یې د هېواد سوبمن باله او د انګرېزانو په شان په کبر او سور چلند سره د افغانستان له خلکو سره مخامخ و. دغه دربار په تاو تریخوالي او غوسه کې د امیرعبدالرحمن خان په پل او په تشریفاتو کې د امیرحبیب الله خان په پل باندې ګام ایښی و. د واکمنې کورنۍ غړي د الماسو د نښان، پلنو پټارو او شنو حمایلو مړه وو. پاچا د هند له ویسرا، محمدهاشم خان د نایب السلطنت سردار نصرالله خان او شاه محمود خان د معین السلطنت سردار عنایت الله خان پېښې کولې او غوښتل یې، چې د افغانستان بې پروا خلک په هره وسیله چې کېږي، د خپل خان په وړاندې سجدې ته اړ کړي. البته دوی د دولت یو شمېر مامورین اړ کړل، خو د افغانستان خلکو دوی ته د افغانستان له تېرو ټولو دولتونو څخه په بده سترګه کتل. کله به چې پاچا او د هغه وروڼه په لاره باندې تلل، خلکو به ورته نه کتل او که ورته کتل به یې سلام به یې ورته اچاوه.

د افغانستان دربار، چې د هېواد د ادارې په سر کې و، له پاچا د هغه ورونو او شخصي کورنۍ څخه جوړ و. دوې په ډله ییزه توګه ځانونه د افغانستان د خپلواکۍ ګټونکي او د سقاو د زوی له اغتشاشي حکومت څخه د هېواد ژغورونکي بلل او د افغانستان خلک یې د خپل خان تلپاتې پور وړي او د خپل احسان بنده ګڼل، نو ځکه به یې په خصوصي او رسمي مناسبتونو او غونډو کې غوښتل، چې هغوی سره د چوپړیانو په شان چلند وکړي. آن دا چې وزیران یې لکه د خپلو شخصي نوکرانو په شان استعمالول. علي محمد خان بدخشانی د بهرنیو چارو او د معارف وزیر به، چې کله رسمي غونډو ته راته د بل وزیر (د حرب وزیر شاه محمود خان) لاسونه به یې مچول. د پاچا وراره محمدداود خان چې کله د کندهار والي و، په لیکلې بڼه یې یو وزیر پېنځه زره افغانۍ جرم باندې محکوم کړ. دا یواځې نه، بلکې هغه د فراه اعلی حاکم محمد کریم خان، چې معمولاً دده په دریځ کې برابر و، کندهار ته ور وغوښت او بندي یې کړ او بیا یې په کابل کې زندان ته واچاوه. د شاه محمود یو نوکرېوال نظامي غونډ مشر به په فایتون کې د کوچ وان څنګ ته کښېناست او د هغه دایه به یې بازار ته بیوله او بېرته به یې راوستله. د پاچا بل وراره ولي خان د یوه بهرني سفارت په یوه رسمي میلمستیا کې د افغانستان د عمومي حرب د ارکانو رییس ته د پلار ښکنځل وکړل.

محمدهاشم خان صدراعظم به د خپلو وزیرانو سلام ته په اشاره ځواب ورکاوه. د هغه وراره محمدنعیم خان به د لویو ادارو له رییسانو سره په پټه خوله یواځې د سترګو، لاس، اوږو او وریځو په اشاره خبرې کولې.

فیض محمد خان زکریا به د هغو کسانو په لست کې چې په بهرنیو ماموریتونو کې به مقررېدل، د غیر محمدزي کسانو د نوم په وړاندې لیکل، چې هېڅ عیب نه لري، خو هډوکي یې پاخه نه دي او بیا به یې لیست صدراعظم ته ورکاوه، خو بیا هم سلطنت مجبور و، چې ګڼ شمېر چارې غیر محمدزایانو ته وسپارې دا، ځکه چې د اشرافي محمدزیو شمېر دومره لږ و، چې د ګوتو په اندازه وو او یو شمېر یې د

Scanned by CamScanner

له همدې امله سلطنت خپل ځوانان د هېواد دننه او بهر تحصیل او پوهې لرونکي نه وو. تحصیل او ماموریت ته واستول او یو نیم رسېدلي محمدزايي قشر رامنځته شول.

البته سلطنت، چې دوډې او رسۍ لرل وېې کولای شول، چې د افغانستان د مامورینو ډله خامخا د ډېر زاړه اریستوکراتیك چلند بار ته اړ کړي، د بېلګې په توګه دوی باید په خپلو رسمي عرضپاڼو کې "درځخه ځار شم" ټکی وکاروي، د شاهي کورنۍ دوه کلن ماشوم هر کلي ته باید پاڅېږي. د والا حضرت ښکنځلې باید واوري او د اړتیا پر مهال باید سپك، له دندې لرې او ګوښه شي. په اخترونو کې به لګه د پسونو د رمې په شان د خپل رییس تر شا د والا حضرت د دروازې شاته د اختر مبارکۍ ته تلل، د دغې کورنۍ د کوم غړي په مړي کې به درې ورځې د تکفین، دعا او جنازې د تشیع لپاره ځان ستومانه کړي او د نوي مولود په زېږېدلو کې به (نشره) لولي او په ختنه سوري کې به یې مبارکي ورته لیکي:

له جرمني ځخه افغانستان ته د پاچا د ورور محمدعزیزخان د مړي د راوړلو پر مهال د لارې په اوږدو کې خلك د پولیس په زور د مړي بدرګې ته راوستل شول، حال دا چې عوامو خلکو دغه ګمنام سړی چندان نه پېژاند، چې څوك او د څه لپاره وو. همدا رنګه مامورین اړ وو، چې هر هندوستاني او هر محمدزي ته له لرې ځخه سلام واچوي.

مامورینو باید د ترقي، سیاست، حقوقو، شرف او حیثیت په هکله یوه کلمه هم نه وای ویلی او د خلوت او جلوت په حالت کې یې باید د اعلیحضرت او والا حضرت د عمر د اوږدوالي دعاوې کولای...

خو ددغو ټولو سپکاویو سره سره بیا هم لوړ رتبه مامورینو یو څه امتیازات لرل، هغه دا چې دوی د خلکو په چارو کې خلاص مټ درلود او د اداري د نیمګړتیاوو، بډو، اختلاس او د خلکو په ځورولو کې یې کومه سزا نه لیدله او له دندې نه ګوښه کېدل، بلکې که څومره به د هغه له لاسه د خلکو فغان اوچت شو، نو په هغه باندې به د سلطنت باور نور هم زیات شو، دا ځکه چې دولت ددې غوښتونکي و تر څو خلك بوخت وساتل شي، یو بل سره په دعوا او اختلاف کې وي، سرګردانه او په رسمي دایرو کې دروازه په دروازه لالهانده وي. آن دا چې یو شمېر دعواګانې د نادرشاه د حکومت تر پای پورې هم کومې، پایلې ترلاسه نه کړي، مامورین د خلکو په آزار او ځورولو کې د خپل واك لرونکي وو، خو د هغوی د حق ورکولو او هغوی ته د اسانتیا په چمتو کولو کې یې کوم حق نه درلود.

دولت په خپله دغه کړنلاره کې د استعماري سیاست له ملاتړ ځخه پرته د افغانستان د اردو په یو شمېر نظامي افسرانو باندې هم ډډه لګوله، هغه افسران، چې حاضر وو، تر څو د پاچا د ګوتې په اشاره د افغانستان ودانۍ په کنډواله واړوي، خو په دې نه پوهېدل، چې په دغه شلمه پېړۍ کې د خپل هېواد تاریخي دروند مسئولیت په غاړ لري او یوه ورځ به د افغانستان د تاریخ په محکمه کې محکوم شي؛ خو بیا هم د سلطنت ددغو ټولو فشارونو اوزور سره سره بیا هم د هېواد عامه وګړو، منځنیو طبقو او روڼ اندو د سلطنت بار ته اوږه ورنه کړه. کله به چې نادرشاه په شاهي بیرغ لرونکي موټر کې له بازارونو او سړکونو ځخه تېرېد، نو هېچا به ورته سلام نه اچاو. هېیوالو به آن دده د موټر خوا ته نه کتل او ځانونه به یې په یوه کار باندې بوختول. حال دا، چې پخواني پاچاهان به چې کله تېرېدل، خلك به ورته

پاڅېدل او درناوی به یې کاوه. د کلیو او باندو بې پروا خلکو به شاهي کورنۍ ته د (پرنګي خوریان) ویل او د زندان په کوټو کې به بندیانو سلطنت ته کنځلې کولې. یوه ورځ، چې نادرشاه یو ناڅاپه څو تنه له کورونو څخه دربار ته ور وغوښتل او لکه د قرباني د څارویو په شان یې کتار ودرول، امر یې وکړ، چې دوی ټول باید غرغره شي. په دغو بې محاکمې محکومینو کې یو هم د سقو د زوی د دوران یو منصبدار (اسلم سرلچ) هم و، چې په قرآن کې د ژمنې په واسطه تسلیم کېدو ته اړ شوي و. دغه سړي غږ اوچت کړ او ویې ویل:

تازه په قرآن باندې په ژمنې سره دلته راوستی یم او اوس لکه د انګرېز په شان خیانت کوې بیا یې نو نادرشاه ته یو څو کنځاوې وکړې.

نادرشاه دومره عصباني شو، چې امر یې وکړ او هغه یې دده تر مخې د ټوپك په نیزه سوری سوری کړ.

کله چې میرمحمد اسماعیل افغاني ضابط، چې په اسلامبول کې یې زده کړې کړې وې کابل ته راغی، دلته ناروغ شو او په نظامي روغتون کې بستر شو. زه لیکوال له دریو تنو نورو ملګرو سره د هغه پوښتنې ته ورغلم. له هغه سره مو جوړ-په خیر کول، چې د روغتون سر طبیب سید عبدالغني شاه هندي له هندي ډاکتر نورمحمد او څو نورو روغتیا پالانو سره راورسېدل او له لرې کتنې وروسته هندي سرطبیب وویل: پروا نه کوي، تاسې کړاو تېر کړی، ستاسې اعصاب ضعیف شوي دي، مونږ درملنه کوو تاسې ښه کېږئ. دغه عصبي ناروغ په مسکا سره وویل:

تر څو چې جارج په لندن کې او نادرخان او هندوستانیان په کابل کې وي، ډاډه اوسئ، چې هېڅ افغاني وګړی به په پیاوړو اعصابو پاتې نه شي.

یو وردك لیونی د کابل په بازارونو ګرځېد، خلکو هغه ته د وردګو خان ویل، ځینې وختونه به شو څو هلکانو هغه ځوراوه، ویل به یې: خدای دې وردکو ته بوځه! هغه نه غوښتل، چې وردګو ته ولاړ شي، نو په غوسه به شو او د ماشومانو پر ځای به یې د کابل ټولو خلکو ته ښکنځل پیل کړل، یوه ورځ دده افغانانو په بازار کې همدا کیسه پېښه شوه، هغه د کابل خلکو ته کنځلې کول پیل کړل، یو هټیوال ورته وویل:

خانه! ته د یوه ماشوم په ګناه د کابل ټولو خلکو ته ښکنځل کوې! دا ناریښتوب نه دی. که نر یې انګرېزانو ته کنځلې وکړه.

دغه لیونی ودرېد او خپله ګوته یې د سلطنتي ارګ خوا ته ونیوله ویې ویل:

بیا هغه خپه کېږي!

یعني له انګرېز سره مخالفت د باچا د غوصې لامل کېږي.

البته دا پېښه د عامه احساساتو یوه کوچنۍ بېلګه او آن دا چې د افغانستان دخلکو د تحت الشعوري نظریاتو ښودونکې وه، چې د نادرشاه په وړاندې یې د خلکو غبرګون څرګنداوه.

له بلې خوا د سلطنت چلند یو شمېر شریر وګړي لکه د وسپنکښ په شان راټول کړي وو، چې له بده مرغه دغه ډول کم اوزیات په ډېرو نورو هېوادونو کې هم تر سترګو کېږي، او سلطنت دغه ډول وګړي په

ټولنیز ډګر کې په کار واچول، په دې توګه د سپکاوي او خیانت بازار تود شو. جاسوسي او غوره مالي او د ملي اخلاقو ویجاړتیا پراخه شوه، په تېره بیا چې سلطنت داسې هوډ کړی و، چې د افغانستان ملت په یوه وژل شوي او ښکېل شوې ټولنه بدله کړي. پاچا به ویل:

زه به افغانستان داسې سم کړم، چې د دولت یو پیش خدمت به وکولای شي، چې د بانس په یوې لښتې سره په ټول هېواد کې وګرځي او هېڅوك هغه ته د پورته کتلو زړه ونشي کولای. سلطنت په دغه ډول بدنیت سره د ملت د مسخ کولو لپاره له دوو پرېکنده غوڅو وسیلو څخه کار واخیست، چې یوه یې بېوزلي او بله یې ظلم و. په ټولنه باندې د ظلم پایله د وېرې د غریزې پیاوړې کېدل، د خلکو د ارتیاد احساس زیاتېدل او په خلکو کې د حرص زیاتېدل و او دغه دوه ځانګړتیاوې، چې ډېرې بدې وې. یعنې وېرې او حرص بې پروا وګړي او د یوې سرلوړې ټولنې خلك د استبداد په وړاندې لکه د لیندۍ په شان کړولای شول، نو ځکه بیا په دغه ډول ټولنه کې د وطنپالو او افغاني روڼ اندو ملي مبارزه او، چې دوی ځانونه په حقه د ملت رېښتیني استازي ګڼل د دوی هلې-ځلې ډېرې خطرناکې او درنې شوې وې، او په رښتیا سره چې دوی ددغې مبارزې د ترسره کولو لپاره له ځان او خپلې ځوانۍ او ژوند څخه لاس مینځلی و، خو په راتلونکي کې یې له هېچا څخه د هېڅ ډول مکافاتو تمه نه لرله.

په هر حال، د نادرشاه د سلطنت له راتګ څخه وروسته د افغانستان دننه او بهر په دوو سنګرونو کې د افغانستان د وطنپالو وګړو مبارزات ددغه ویروونکي رژیم په وړاندې پیل شول او طبیعي خبره وه، چې دغه مبارزې د انګلیس د استعماري دولت په ضد هم وې، نو ځکه په ډېرې سختۍ سره ځپل کېدې.

# اتم

## د نادرشاه د دولت د اختناق او ارتجاع په ضد د خلکو او روڼ اندو مبارزه

د افغانستان سلطنت، چې عملاً يې د هېواد ټول قضايي، تقنيني، نظامي او اجرايي واکونه په لاس کې لرل، د ملت عظيم اکثريت يعنې بزګران يې د ملاکانو (ځمکوالو) او زړو بيروکراسيو تر بار لاندې وساتل او د امانيه د دورې سرچپه يې يو ځل بيا د قريه داري، ملکي او اربابي دور راژوندي او د پېروديې جبر بيګاري او اجباري حواله کولو زوړ حالت يې بيا راوست.
په دې توګه د بزګرانو لوېه طبقه په خپل ځان بوخته شوه او له معارف او د ورځې له سياست څخه جلا او بې برخې شوه. کرنيز کارګران، چې شمېر يې زيات و تر کروند ګرو او بزګرانو څخه هم لا بېوزله و. يو کرنيز کارګر په دې باندې اړ و، چې يو يا دوه خره او د وسپنې يوم په خپله ولري او په يوه ورځ کې يو يا دوه جريبه ځمکې ته دېران ورکړي، او د ځمکې د خړوبولو، ريبلو او درمند کولو پرمهال ځمکوال ته کار وکړي او په يوه بشپړ کال کې ددغومره کارونو په وړاندې د څلوېښتو منو شا و خوا غنم ۱۲۰ منه بوس او يو څو منه جوار ترلاسه کړي. په دې توګه يو کرنيز کارګر به له خپلې مېرمن او بچيانو سره پوره يو کال پرته له تفريح، درملو او نورو اړتياوو څخه ژوند کاوه، چې حالت به يې د لږ ځمکې لرونکي بزګر په پرتله هم ډېر ويجاړوه. خو يوه بې ځمکې کروندګر به د ځمکوال پر ځمکه باندې زياتره د دهقاني برخې په بنه کار کاوه، ښځې به يې اوبدل کول او ماشومان يې د څارويو په برخه کې بوخت وو. شپنو او نورو لږ شمېر څاروي لرونکو وګړو هم د کروندګرو په شان ژوند کاوه.
په همدغسې يوه حالت سره دولت د افغانستان د وګړو له اکثريت سياسي پاڅون څخه ډاډه و په تېره بيا دا چې سلطنت د شريعت پرده پر مخ غوړولې وه او روحاني قشر يې د مذهب د استازو په توګه ځان سره کړي وو او همدغه دواړو د افغانستان د پراخه ولسونو د پاکو ديني مېراثونو او سپېڅلې عقيدې څخه ګټه اوچتوله او د ازلي برخليک تصديقوونکو په توګه يې اعظمي استفاده وکړه او په زور، تبليغ او تلقين سره يې ټولې ټولنيزې بدمرغۍ او دردونه، ناوړه اداره، ظلم او تيرې ومنل او هغه يې مقرر شوي برخليک او د الله(ج) له لوري مقدرات وبلل او په دې توګه سلطنت خلک د غفلت په تياره کې په خوب ويده کړي وو. دا ځکه چې د ملت ويښتيا او ځان پېژندنه د ځمکوالي د خېټبناک او اشرافي استبداد د بيخ د نړېدو معنا درلوده.
په ښارونو کې هم همداسې و، سلطنت د منځنۍ طبقې د سياسي فعاليت د نشتوالي څخه ډاډه و، د بېلګې په توګه کسبه کارانو، صنعتکارانو، د حرفي خاوندانو هتيوالو، کوچنيو مامورينو، کوچنيو

Scanned by CamScanner

سوداګرو او نورو څخه هم ډاډه و، دا ځکه چې دوی که ناخوښه هم وو، خو بیا هم د ژاندارم او پولیس تر سیوري لاندې غلي کېنول شوي وو، د فکر کولو او په سیاست کې د لاس وهلو وخت یې نه درلود.
له دې پرته دوی په موجوده ټولنو تېز اکر کې خپل ټول کړه وړه دې ته راټول کړي وو، چې یو مړی وچه لمده ډوډۍ وګټي، حال دا چې هېڅ کومه ټولنه، تشکیلات او یا بل سازمان یې نه درلود، چې د دوی له حقونو څخه ننګه وکړي. د بېلګې په توګه یوه تن رنګرېز به، چې د لس کلنۍ له عمر څخه شاګردي پیل کړه د مړینې تر وخت پورې به یې همدا دنده وه او په خپله به یې د سپرك، روین، عشقار او نورو بوټو سره به یې د نیل، ښورې، توتو، د وسپنې د میده ګي، د اناروپوستکي، د غوزانو پوټکي ګډول او بېلا بېل ژیړ، نیلي، سور، تور، خړ او داسې نور رنګونه به یې جوړول او خپل کار به یې چلاوه. د انارو له پوټکي، کنډ، دزغه له دانو، روین، نیل توتیا او نورو څخه به یې د ټوکرانو د چکن کولو لپاره د لرګیو ټاپي جوړولې. په تېره بیا کرباس ټوکران به یې چکن کول، خو وروسته بیا له بهر څخه راز راز رنګونه راغلل او دغو خامو رنګونو د رنګرېزانو کړاو کم کړ او په دې توګه کورنی صنعت او پوخ رنګ له منځه ولاړ، نو په دې توګه به دغه رنګرېز، چې لاسونه یې تر څنګلو پورې ټول عمر په رنګ لړلي وو او له سهاره تر ماښام پورې به یې کار کاوه، د ټول کار او زیار حاصل به یې هغه یو مړی ډوډۍ وه، چې ایله یې کورنۍ ته بس وه. نه یې سپماوه او نه یې هم د تفریح او سیاسي تفکر لپاره وخت درلود، دولت هم هېڅکله هغه او د هغه صنعت ته کومه پاملرنه نه کوله، خو مالیات یې ورڅخه اخیستل. د ښارونو د نورو پیشه ورانو حال هم همداسې و او د کسبه کارانو ژوند تر دوی څخه هم لا ټیټ و، د بېلګې په توګه یو موچي به یواځې یوه صندوقچه درلوده، چې په هغې کې به ستن، رینه او تار به پکې وو. هغه به د یوې هټۍ د اجاره کولو وس نه درلود. نو د کار اسبابونه به یې د بازار په کومه څنډه کې غوړولي وو او د شپې به د سرایونو په کوټو، په شخصي زېرخانو کې د همسایه په توګه او نورو ځایونو کې ویده کېدل، که به یې ښځه او کوم ماشوم و هغوی به د کور د خاوند په چوپړ کې وو. همداسې هم زرګر، ګنډونکي، ترکاڼ، ختګر، پښې ګنډونکی، حلبي جوړونکی، پښ، مسګر او نورو هم د هېواد په سیاست کار نشولرلای او یوه هم کومه صنفي اتحادیه او ټولنه نه درلوده. کوچنیو سوداګرو، هټېوالو او ټیټو مامورینو په کار کې د څنډ، توقیف او څو ورځو بند زغم نه درلود، دا ځکه چې کاروبار یې سمدستي خراب او کورنۍ یې وږې پاتې کېده. په دې توګه سیاسي مبارزه او هغه هم د یوې پیاوړې نظامي ادارې په وړاندې مبارزه ډېره ستونزمنه وه. البته پانګوال او سوداګرو، چې کولای شوای په ټولنیزو او سیاسي چارو نافذ او اغېزمن اوسي، خپلې اصلاحي غوښتنې یې درلودې او د اداري ریفورم او د عمل د آزادۍ غوښتونکي وو، خودوی د سلطنت د ډېرې پیاوړې او بې رحمه ادارې په وړاندې د یوه پسه په شان غلي او مطیع شوي وو. په تېره بیا کله چې دولت ددغې طبقې د صرافي او د لالي سوداګرۍ د امتیازي او انحصاري پانګې د یوه ساتونکي او ګډونوال په توګه ملاتړ وکړ او ګټې یې سره شریکې شوې، نو په دې حالت کې یو شمېر لویو سوداګرو او پانګوالو لکه د یو شمېر ځمکوالو په شان د سلطنت تر څنګ ځای ونیو او په دې توګه مخالف نظر ته نور هېڅ ځای پاتې نه و، دا ځکه چې د سلطنت څلی د نظامي

Scanned by CamScanner

بیروکراسي، همکار څمکوال، یو شمېر تالي څټو ملایانو او یو شمېر لویو پانګوالو او سوداګرو په ځلورو پښو درېدلی و. نو سلطنت دا مهال په ټول هېواد کې د خپل خان په وړاندي کوم بېړ نه درلود، یواځیني خودبخودي پاڅون، چې وهغه د دولتي استبداد ضد د ټیټ او پرک روڼ اندو قشر سیاسي مبارزات او د افغانستان د وطنپالو روښنفکرانو حرکت و. همدلته و، چې ددغو نابرابرو او د نه پرتله کېدونکو ځواکونو تر منځ یوه کلکه مبارزه پیل شوه. یوې خوا ته د سلطنت دریځ چې په اردو سره سمبال او د هغو هندیانو په ګډون جاسوسي پراخه دایره، چې کلونه کلونه د انګرېزانو انتلیجنت سرویس هغوی روزلي و، تر څنګ یې څمکواله طبقه او تر شا یې د بریتانیا د امپراتوري زور (چې تر اوسه پورې یې لا د نړۍ د سیاست موازنه په لاس کې وه) و. بلې خوا د افغانستان د ګوتو په شمار روڼ اندو قشر و، چې د شمېر، سازمان او تجربې له پلوه ډېر کم وو، دوی نه د هېواد دننه او نه هم بهر کومه تکیه درلوده. دوی د دولت د سرنېزې تر سیوري لاندې نشو کولای، چې د ټولنې له اکثریت یعنې بزګرانو سره ډېر لږ اړیکې وساتي، آن دا چې د پلازمینې دننه د یوه منظم ګوند په جوړولو بریالي نه وو. دوی په جلا جلا ډول یا د کوچنیو کړیو په بڼه مبارزه پیل کړه. نو له دې امله چې د وطنپالنې او دندې پېژندنې احساس ورسره و، نو ظلم، خیانت او ښکېلاک ته تر تسلیم کېدو څخه یې خاږېدل غوره وبلل، چې دا په خپله د دوی د زیاتو شمېره روڼ اندو د وګړپالي انقلابي روحیې بېلګه وه.

دغه کوچني قشر کې ښاري طبقات او یو شمېر کوچني سوداګر راتلل، خو د فعالیت اصلي دروندوالي د ښاري ټولنې په ټیټ قشر او د منځنۍ طبقې د ځوانانو په اوږو باندې و. سلطنت دوی ته د توپ او ټوپک، چړې او برچې او د دار په رسۍ سره هر کلی ووایه. هغه کړاوونه، چې په دوی باندې راغلل، د هغو بېلګې یواځې او یواځې د عقایدو د تفتیش او د منځنیو پېړیو په دوران کې لیدل کېدای شي او بس، خو البته دغو زړورو مبارزینو د سلطنت خوب په اور او وینو سره ورکړ. همدغه ځواب و، چې د سلطنت د وژنو لاس یې د وطنپالو د لا زیاتې وژنې او جلادي څخه راانډ کړ. سره له دې، چې د دولت له خوا وینې بهول خو کاله نور هم روان وو، خو د هغه له لیونتوب ډکې وژنې ودرول شوې.

یعنې د ډله ییزه وژنو پر ځای یې زندانونه زیات کړل او په مالوچو باندې وژنو د تورو د وژنې ځای ونیو. باید په یاد ولرو، چې د روڼ اندو د قشر دننه بېلابېلې ډلې وې. یو شمېر یې ریفورم غوښتونکي لیبرالان، یو شمېر یې د دولت د کورني او بهرني سیاست ضد ترقي غوښتونکي وطنپالان، بل شمېر یې د استبداد او ښکېلاک ضد روڼ اندي وو. خو زیاتره دغه ډېر پتمن او مبارز کسان له علمي لید څخه بې برخې وو. همدا رنګه یو شمېر روڼ اندي فعال نه وو او د افغانستان ټولنیز موجود جریانات یې د اوسني سلطنت له شتون او په هېواد کې د مالك الرقابي او په هندوستان کې انګلیسي دولت په برلاسي پورې تړلي او تلپاتې بلل، نو ځکه یې مبارزه بې ګټې بلله. یو شمېر نور بیا یوه ناځرګند فرصت ته په تمه وو او دې ته سترګې په لاره وو، چې نور به دوی ته د ګام اوچتولو لاره هواره کړي او بیا به دوی ډګر ته ننوځي. دغه وروستي لید لوری دغه خلك د اپورتونیستي په ډنډ کې ډوب کړل او د دولت ورڅخه ښه ګټه اوچته کړه. له دې پرته یو ډېر لږ شمېر روڼ اندي د استبدادي دولت چوپړ کې پاتې شول.

## د مبارزې لاملونه

د افغاني روڼ اندو مبارزه د نادرشاه د سلطنت له هماغه پیل څخه، چې پرده یې له مخ څخه پرېوته او بیا په اوږه هم د هېواد دننه او هم بهر دوو سنګرونو کې پیل شوه. بهرنی سنګر د امان الله خان په چاپېره تودو او د هېواد دننه زیاتره ښاري منځني طبقه ځوانان وو. ولې دغه په وینو لړلی او درنې مبارزې پیل شوې؟ د نادرشاه د سلطنت چلند په خپله د دغه ډول مبارزې تګلوری ګرندی کړ.

## د نادرشاه دولت او روڼ اندي

د نادرشاه د سلطنت تر ټینګېدلو او د هغه د خطرناکه پروګرام له تطبیق کېدو څخه وروسته د افغانستان روڼ اندو د هېواد دننه او بهر په مبارزې لاس پورې کړ، سره له دې چې په دې لاره کې یې سرونه بایلل، دا ځکه چې روڼ اندو د داسې یو سلطنت په وړاندې په جلا جلا توګه یا په ډېرو کوچنیو کړیو کې مبارزه کوله، چې د سلطنت شا وخوا د یو کلك جاسوسۍ د ېوال او ویرووونکي زندانونه وو، خو برسیره ډېر غولوونکی و، دا مبارزه نه یواځې د یوه کورني سلطنت په وړاندې روانه شوه، بلکې په واقعیت کې د بریتانیا د امپراتوري او د هغې د انتلجنس سرویس په وړاندې هم وه، چې آسیایي ځو ځله په وینو لړې وه او په خاوره یې برابره کړې وه.

دغې امپراتورۍ هوډ درلود، چې نور، نو افغانستان ونشي کولای، چې سر راپورته کړي او په هېواد کې یو مترقي رژیم بیا راژوندی شي. دوی غوښتل، چې یو مرتجع او مطیع دولت وکولای شي، لسګونه کاله نور هم په دغه هېواد کې واکمن وي، نو په افغانستان کې هېڅ روڼ اندي او هېڅ یوه سیمه پاتې نه شوه، چې په هغې باندې یو کلك نظارت او څارنه نه وي.

همدا رنګه هغه ټول روڼ اندي، چې په بهرنیو هېوادونو کې اوسېدل، د هغوی هره شېبه تر څارنې لاندې وه. دغه جګړه چې ښکېلاك او د هغه تالي څټو د افغانستان د خلکو او روڼ اندو په وړاندې اعلان کړې وه، یواځې یوه سیاسي یا نظامي جګړه نه وه، بلکې رواني او د اعصابو جنګ، اقتصادي جګړه او ایدیولوژیکه جګړه هم وه. ددغه لوري د ماتې لپاره له ټولو وسایلو لکه ګواښ، څارنې بندي توب، کړاو، اعدام د کورنۍ بربادول، تلقین، تجرید، تخویف، تطمیع، تحریف، تفتیش (تور او تهمت لاندې راوستل، د نوم ورکول، په حق او ناحقه دعواګانو کې پېچل)، عیاشۍ ته هڅول، پخلا کول او مرسته کول، په ګټو کې ځان سره شریکول او نورو ټولو ناجایزه لارو څخه کار اخیستل کېده.

ددغې جګړې پایله داوه، چې په افغانستان کې د رښتینو وطنپالو ریښه وکاږي او له استعمار (ښکېلاك) سره ضدیت ختم او د وطنپالنې احساس ورك کړي. د وطنپال نسل د رامنځته کېدو مخه ونیول شي، یو داسې نوی نسل وروزل شي، چې لکه د نانځکې غوندې ولوبول شي او په هر بڼه یې، چې وغواړي هغسې واړوي. د ملت بشپړه اکثریت وګړي په بېوزلۍ، تیاره، جهل او نفاق کې ساتل کېدل او د ترقي بدلون او هیلو ټولې دریڅې ورباندې وتړل شو. د اوږدې مودې دغه پروګرام د ترسره کولو لپاره زر او زور او د خلکو مال، ځان او ډوډۍ د سلطنت لاس ته ورکړل شوي وو او توره او جاسوسي هم دواړه

Scanned by CamScanner

په کار اچول شوي وو. دغه جاسوسي دومره پرخه او منظمه وه، چې ښېلګه يې د افغانستان تاریخ په ياد نه لري، نو ځکه داسي ګومان کېدای شي، چې شاته يې د پردیو د جاسوسۍ ملاتړ و، همدغه ملاتړ د افغانستان سلطنت د خپلې وروستنۍ نقشې په ګټه په کار اچولی و. د هېواد ټول ډاک، د لېږدولو چارې (پست او حمل و نقل) په جاسوسي ځانګو بدل شوي وو. په سلطنتي ارګ کې، په صدارت کې، د کورنيو چارو په وزارت، د واليانو په کار ځای، قومندانيو او کوتواليو کې په رسمي توګه د ضبط احوالات ځانګې پرانيستل شوې وې، په دې توګه د هېواد بهر او دننه ټول وطنپالان تر څارنې لاندې نيول شوي وو او هر يو يې په يوه بڼه نه په يوه بڼه له پېښو غور خول کېدل.

## لـه بهر ځخه مبارزه

په اروپا کې افغاني روڼ اندو د نادرشاه د رژيم په وړاندې د يوه مبارز ګوند د جوړولو اړتيا وليدله، نو ښکاره خبره ده، چې هر ګوند بايد خپل لارښود هيئت ولري، دغه هيئت په ترکيه کې محمود طرزي او غلام نبي خان څرخي، په برلين کې شجاع الدوله غلام صديق خان څرخي او عبدالهادي داوي او په روم کې عبدالحسين خان عزيز و، چې د هغو ټولو په سر کې پاچا امان الله خان و. د ګوند غړي څو تنه افغاني محصلان او په اروپا او ترکيه کې د افغانستان د سفارتونو څو تنه مامورين او نور وو. د ګوند مرامنامه په استانبول کې تسويد، په برلين کې مطالعه او په سويټزرلنډ کې په يوه پټه غونډه کې تر غور او کتنې لاندې ونيول شوه او يو څو پرېکړې وشوې. په دغه غونډه کې پاچا امان الله خان او يو شمېر معزول شويو سفيرانو او په کار باندې موجودو افغاني سفيرانو ګډون کړی و. په دغو سفيرانو کې يو يې په روم کې مختار وزير عبدالحسين خان عزيز و. وروسته بيا د ګوند غړو ته ځرګنده شوه، چې دغه نقاب لرونکی سردار د غونډې پرېکړې نادرشاه ته استولې وې او د غونډې غړو ته يې يو لوی ګوابن پېښ کړی و. همدا رنګه د دولت جاسوسان بريالي شول، چې په انقره کې د افغانستان کې د سفير غلام نبي خان څرخي ټول خصوصي ليکونه او اسناد ترلاسه او فوتوکاپي يې د افغانستان شاهي دارالتحرير ته ورسوي. ددغو ليکونو يوه برخه، چې د پاچا امان الله خان، شجاع الدوله خان يو شمېر افغاني محصلانو او نورو له خوا غلام نبي خان ته استول شوي وو، په هغو کې په ځرګند ډول د نادرشاه د دولت په وړاندې د ګوند د حرکت او کړو وړو په هکله خبرې وې.

د ګوند لومړنۍ موخه د نادرشاه د دولت راپرځول او په افغانستان کې د يوه ملي دولت ټينګښت او په هېواد کې د ترقي، تجدد، آزادي او برابري د لارې پرانيستل و. په همدې وخت کې د ګوند ټولو غړو په خپله پاچا امان الله خان ته سترګې اړولې، البته استعماري جاسوس په ګوند کې و او ويجاړوونکی فعاليت يې کاوه، ګوند تر کلکې ځارنې لاندې و. پرېکړه شوې وه، چې د ګوند غړي چې پخوا د دولت مامورين وو او وروسته بيا يا لرې کړل شوي، يا يې استعفا کړې وه، د ګوند د رهبرۍ هيئت له خوا به اعاشه کېږي. دا مهال لا ګوند کوم نشراتي ارګان له هېواد ځخه بهر نه درلود، هڅه يې کوله چې د هېواد دننه او بهر له افغاني روڼ اندو او په تېره بيا له سيمه ييزو منورينو سره او يو شمېر ناراضه مامورينو

سره اړیکې ټینګې کړي. د ګوند لیکونه د ګوند د مهمو غړو په لاسلیک په هغو امساګانو کې افغانستان ته استول کېدل، چې منځونه یې تش وو. همدا رنګه یو ځل په خپله د امان الله خان په لاسلیک باندې په څو پاڼو کې یوه مفصله اعلامیه په افغانستان کې خپره شوه. په دغه اعلامیه کې د امان الله خان په وړاندې د مخالفینو تورونه او پروپاګند په پاخه ډول رد او د افغانستان د ترقۍ په خاطر د هغه مرام هم ښودل شوی و، په همدې ترڅ کې په تېرو تېروتنو باندې په عاقلانه ډول اعتراف شوی و او د نادرشاه د رژیم اصلي څېره پکې انځور شوې وه. افغانستان ته ددغو اعلامیو په راوړلو نادرشاه ته درې تنه تورن ښکاره شول یو یې یو هندي مهاجر دوران خان و. دوران خان ونیول شو او ډېر ژر د کابل په بالاحصار کې اعدام شو.

دغې اعلامیې د نادرشاه سلطنت ته ټکان ورکړ او تاو تریخوالی یې نور هم زیات شو. د بهرنیو چارو وزیر فیض محمدخان زکریا په خپله خوبنه چمتو شو، چې اعلامیه رد کړي، نو په بیړه یې د «تردید شایعات باطله شاه مخلوع» په نوم یو کتاب په اردو او دري ژبه باندې په ۱۳۱۰ ل. کال چاپ او خپور کړ. فیض محمدخان، چې پخوا یې امان الله خان (امان الله کبیر) نومولی و. په دغه کتاب کې یې هغه تورن او ټکولی و او په دربیمه پاڼه کې یې سقوي اغتشاش ته د (انقلاب کبیر) نوم ورکړی دی. د نادرشاه او د هغه د ورونو ستاینه یې کړې ده، په دغه کتاب کې له پېنځلسم مخ څخه وروسته، چې د هندوستان د دیوبند د مدرسې په اړه دی او شیخانو سره یې د افغانستان د اردو د افسرانو مرید کېدل ستایلي دي او امان الله خان باندې یې «اخلاقي ضد» فوتوګرافي تور لګولی دی او هغه یې د هغو د خپرولو په تور ګواښلی دی دا هماغه فوتوګرافي ګانې وې، چې مخکې د بهرني دښمن په لاس جوړې او په ازادو سرحداتو کې په افغانستان کې د امان الله خان په وړاندې د اړ-دوړ د پاڅولو په موخه په جعلي توګه ویشل شوې وې. سلطنت د افغانستان دننه د مبارزینو ضد د امان الله خان له دغې اعلامیې څخه د ناوړه کار اخیستو په خاطر پرته له کوم لاسلیک څخه یوه شرعي فتوا د افغانستان د علماوو په نوم د کتاب په پای کې خپره کړه.

## څرخي غلام نبي خان

په هر حال، د ګوند له عملي کړنو څخه یو یې دا و، چې غلام نبي خان څرخي کابل ته راغی په پټه خوبه ډېره مېړانه په فعالیت بوخت شو. دغه فعالیت له کابل څخه تر لوګر او تر پکتیا پورې وغځېد. غلام نبي خان د افغانستان یوه ډېره نامتو څېره وه، هغه د پکتیا، لوګر، بلخ او کابل په ولایتونو کې شخصاً او د ننګرهار په ولایت کې یې د خپل پلار غلام حیدرخان څرخي سپه سالار د نوم له امله ډېر ګرانښت درلود او تولو پېژاند. همدغه ګرانښت او پېژندنې د هغه غرور نور هم اوچت کړی و. نوموړی او دده هر حرکت لا پخوا څخه تر څارنې لاندې و او سلطنت د هغه د فعالیت له هر څه خبر و، هغه د سقو د زوی د اړ-دوړ پر مهال په روسیه، بلخ او د میمنې په ولایتونو کې له ځان سره یو ځوان ملګری درلود، چې عبدالحکیم

خان نومېد. هر څه یې دغه ځوان ته معلوم و (وروسته بیا نوموړی په دغه نوي دولت کې وزیر او بیا والي شو).
دغه ځوان په پټه د افغانستان انګلوفیلانو سره تړلی و او د غلام نبي خان هر حرکت یې څارنې لاندې و. همدا رنګه کله چې غلام نبي خان په انقره کې و، د خپل کاتب محمد اکبرخان له خوا تر څارنې لاندې و. نوموړی هم وروسته تر دغو خدماتو د حکومت په دوهمه درجه سرېو کې راغی.
کله، چې د نادرشاه د سلطنت پر مهال غلام نبي خان کابل ته راغی، محمدصفرخان نورستاني (وروسته بیا جنرال شو) او عبدالله خان نایب سالار (ماهیار وردکی) په څرګنده د خوږو ملګرو په توګه ورسره شول، خو په پټه یې څارنې لاندې کړي و. شپه او ورځ به یې یوه شېبه هم نه پرېښود. په دې توګه د غلام نبي خان د هرې شېبې هر څه سلطنتي میز ته رسېدل. نادرشاه هسې څرګندوله، چې ګواکې له غلام نبي خان څخه وېرېږي، دې کار غلام نبي خان نور هم بې پامه او زړور کړ تر څو چې د هغه ټولې انقلابي نقشې کشف او ترلاسه شوې.
په دې توګه د ۱۳۱۱ل. کال د لړم د شپاړسمې نېټې (۱۹۳۲م.کال) د منې په شپو-ورځو کې د مازیګر د لمانځه پر مهال د پاچا حربي سریاور (جنرال سید شریف خان کونړی) په سلطنتي مخصوص موټر کې د غلام نبي خان څرخي د کور دروازې ته راغی او د پاچا وینا یې ورته واوروله، چې:
"اعلیحضرت تاسې ته سلام استولی او فرمایي، چې نن هوا ډېره ښه ده که خوښه دې وي، زه درته په تمه یم راشئ، چې یو ځای هوا خوری ته ولاړ شو، که خوښه مو نه وي خیر". له دې امله، چې د کابل ښار و خوا څو ځله د غلام نبي خان او پاچا هواخوري پېښه شوې وه، دا ځل هم غلام نبي خان پرته له شک او کومې اندېښنې څخه د پاچا امر یا غوښتنه ومنله او له خپل ورور غلام جیلاني خان (پخوا جنرال او سفیر) او تروزري نایب سالار جانبازخان (هغه چا چې د لوګر د شاه مزار په جګړه کې یې د سقو د زوی په وړاندې په جګړه کې د نادرخان ژوند ژغورلی و)، او جنرال شیرمحمد خان سره یو ځای د دلکشا د ماڼۍ خوا ته روان شول. پاچا لا مخکې ځان چمتو کړی و او یو شمېر هدایات یې هم صادر کړي وو. له ماڼۍ څخه بهر یو کنډک عسکر ولاړ وو او پاچا د دلکشا دننه ناست و. همدا، چې غلام نبي خان له موټر څخه راکوز شو، نو ورته وویل شول، چې دادی اوس پاچا راکوزېږي. غلام نبي خان او هغه سره ملګري د عسکرو کتار مخې ته په تمه ودرېد. د پاچا موټر زینې ته نږدې راوستل شو، همدې شېبه کې پاچا راڅرګند شو او له زینې څخه راکوز شو موټر د پاچا او غلام نبي خان تر منځ شو، پاچا د موټر اړخ ته ودرېد او غلام نبي خان او ملګرو یې ورته درناوی وکړ.
پاچا پرته له دې، چې د سلام ځواب ورکړي، مخ یې غلام نبي خان ته واړاوه او ورته ویې ویل:
"ښه غلام نبي خانه! افغانستان تاسې سره څه بد کړي دي، چې تاسې خیانت کوئ؟"
هغه ځواب ورکړ: "افغانستان یې پېژني، چې څوک خاین دی!"
دا مهال د پاچا رنګ والوته او اعصابو یې ټکان وخوړ، په رښتیا سره له هغه مهال راهیسې، چې نادرخان د افغانستان پر تخت کېښناستلی و، نور نو هغه پخوانی ښکلی سړی نه و، څېره یې کرکجنه او

په تندي به يې تل غوټه پرته وه، لکه داسې چې تل يې وينې تويول او د کينې او دښمنۍ احساسات او پټ انتقام اخيستل په څېره کې را څرګندوي. لکه هماغسې، چې اميرعبدالرحمن خان د خپلې هغې پرتمينې څېرې سره چې لرله يې، د سلطنت تر نيولو وروسته يې، چې کومې جلادانه وژنې وکړې، په ير بدشکله کرکجن او ويروونکي موجود باندې بدل شوی و. کولای شو دغه حقيقت د هغه په هغو انځورونو کې وګورو، چې تر پاچاهۍ د مخه او بيا وروسته تر پاچا کېدو اخيستل شوي وو.

د غلام نبي خان د ځواب په اورېدو سره نادرشاه محافظ ګارډ ته امر وکړ، چې ويې وهئ. د ګارد سپاهيان را مخکې شول دغه مېړنی يې پر ځمکه وغورځاوه. په داسې حال کې، چې د هغه ورور او تروږزي د شاهي ګارد د سرنيزې تر سيوري لاندې ولاړ و او دغه سپکه وضع يې ليدله. غلام نبي خان په بېړه خپل دستمال راوکيښ په خوله کې يې دننه کړ، چې د دښمن د ټوپکونو د ګوزارونو پر مهال يې ناليښت وانه وربدل شي. شاهي ګارد د ټوپکو په کونداغونو سره په وهلو پيل وکړ. نادرشاه ولاړ و او کتل يې، خو رېږدېد. يو ناڅاپه يې غږ وکړ. ويې وهئ تر څو، چې مړ شي. سيدشريف خان ياور را وړاندې شو او سپاهيانو ته يې امر وکړ، چې د ټوپکو په شپېلۍ يې ووهئ. دا مهال نو د ټوپکو پولادي شپېلۍ مخامخ د هغه په پوښتيو او ځنګونونو ننوتې او د هغه يو هډوکی هم روغ پاتې نه شو. دغې قصابۍ پوره اتلس دقيقې وخت ونيو. پاچا امر وکړ، چې د غلام نبي خان مړی، چې دا مهال د غوښو د ټوټه ټوټه شوي خلتې په بڼه شوی و، د هغه کورنۍ ته وسپارئ.

په خپله نادرشاه موټر کې کېناست او مخ په بګرامي د تفرج لپاره روان شو، چې د شهزاده احمدعلي دراني په وينا د لارې په اوږدو کې يې يو ټکی خبره هم له خولې ونه وتله. خو کله چې د غلام نبي خان مړی د هغه په کور وردننه شو د ښځو او نارينه وو شور و فرياد پورته شو او د اندرابي ټوله سيمه په چوپتيا کې ډوبه شوه. په داسې حال کې، چې د غلام نبي خان کور د سپاهيانو له خوا ايسار شوی و او حرم يې د دولتي بنديانو په توګه وشمېرل شو، غلام جيلاني خان، جانباز خان او شيرمحمدخان هم د ارګ زندان ته اچول شوي وو.

خو ددغې کورنۍ (چې په کابل کې د انګليس مختار وزير فريزر تتلر دغه کورنۍ په هغه کتاب کې، چې د افغانستان په هکله يې ليکلي دي (د څرخي شريره کورنۍ) نوموليې ده، دا ځکه چې دغه کورنۍ بريتانيا ضد مبارزين وو) کار په همدې ځای پای ته ونه رسېد، بلکې وروسته بيا ددغې کورنۍ ټول غړي ښځې، نارينه او ماشومان ټول په زندان کې واچول شول. د دوی ماشومان په زندان کې ځوانان شول، خو بهرنۍ نړۍ يې نه پېژندله، آن دا چې په هغه ورځ باندې، چې د زندان د مامور دقرباني پسه د زندان د وره له مخې وتښتيد او زندان ته ننوت. ذدغې کورنۍ يوې ځوانې نجلۍ ددغه عجيب موجود په ليدلو سره د وېرې کريغه وکړه او له هوښه ووته، دا ځکه چې دوی له ماشومتوب راهيسې پرته د زندان له ځمکې او آسمان څخه نور څه مخلوقات نه و ليدلي او نه يې پېژندل. د غلام نبي خان تر وژل کېدو وروسته په ۱۹۳۳م. (د ۱۳۱۲ل. کال په وږي مياشت) کې، جنرال غلام جيلاني خان څرخي، جنرال شيرمحمدخان څرخي د غلام جيلاني خان له نويو زلميو زامنو (غلام رباني او غلام مصطفی خان) او د

عبدالعزیز خان ځرخي له زوی عبداللطیف خان سره ټول یو ځای غرغره شول. جانبازخان ځرخي نایب سالار له خپل ځوارلس کلن زوی (یحیی ځرخي) سره یو ځای په زندان کې مړ شو. البته دده نور زامن پیرمحمدخان ځرخي، محمدعلم خان ځرخي، عبدالرحمن ځرخي (ماشوم) قادر ځرخي (ماشوم) د جانباز خان له ورونو محمدعمر خان ځرخي او محمدعثمان خان ځرخي سره په زندان کې ژوندي پاتې وو. په دې توګه د ځرخي د کورنۍ لوبه پای ته ورسېده. هغه ملي او مبارزه کورنۍ چې انګرېزانو (شریره) بلله، خو د هغې په وړاندې یې د نادرخان د کورنۍ ستاینه کوله. له دغې کورنۍ څخه هغه یو اخیني ځوك، چې ونه وژل شو او له بند څخه هم وساتل شو او د واکمنې کورنۍ خوا کې یې ځای ونیو، هغه یو تن و، چې غلام صفدرخان نومید او په فرانسه کې یې زده کړې کړې وې او د غلام نبي خان ځرخي زوم و. دا ځکه چې نوموړی محمدزی و او د سردار سلطان محمد خان طلایي د اولادې اړوند د اعتمادي د کورنۍ غړی و.

## د ځدراڼ د دربخیلو پاڅون او د وزیرستان د خلکو ملاتړ

ښکاره خبره ده، کله چې غلام نبي خان ځرخي کابل ته راورسېد د پکتیا له ځدرانو سره یې خبرې پیل کړې او هغوی سره یې په پټه مفاهمه وکړه او په دې تمه و، چې هغوی به د سلطنت په ضد وسله وال پاڅون وکړي. بیا به نو د وزیرستان خلك، چې د انګرېزانو ډېر کلك دښمنان وو، د ځدرانو له پاڅون سره یو ځای شي، په دې وخت کې به نادرشاه پکتیا ته نظامي سوقیات کوي او د کابل پوځ به کم شي. ددغه پاڅون انګازې به په ټول افغانستان کې خپرې شي او د ملت اکثریت ناراض به انقلاب ته چمتو شي، دا وخت به غلام نبي خان په پلازمینه کې کودتا کوي او سلطنت به له منځه ولاړ شي او د هغه پر کنډواله باندې به بېرته د پاچا امان الله خان دولت جوړ شي.

دا مهال د ځدرانو دربخیلو پاڅون وکړ شپږ سوه تنه وسله والو د حکومت په ضد پاڅون وکړ. حکومت چې لا مخکې د مخالفینو له نقشې څخه خبر شوی و، د حرب وزیر شاه محمودخان یې په بېړه له منظم اسبال پوځ سره پکتیا ته واستاوه. د اصلاح دولتي ورځپاڼې د ۱۳۱۱ل. کال د لړم د شپږمې نېټې په ۸۵ګڼه کې دا خبر خپور کړ. په پیل کې د دربخیلو ددغه پاڅون مشر د لواني پکیر (فقیر) په نوم یو ځوك و. شاه محمود مخکې تر دې، چې برید وکړي، په ګردیز کې یې لښکرکوټ جوړ او د ډېرو زیاتو پیسو په وېشلو سره یې د خبرو-اترو لاره غوره کړه او شا و خوا نور سیمې او قومونه یې خانته راواړول. تر دوو میاشتو پورې یې یو شمېر د ګردیز او ځدرانو منګزایي، بې باخېل، احمدزي منګل او د هغوی مخور او خانان، طوطاخېل او د زرمت خلك سره راټول او دربخیلو په وړاندې یې د دولت له خواك سره یو ځای کړل. وېې غوښتل، چې د پکتیا په خلکو کې درز واچوي، وروسته یې بیا غوښتل چې د حشري شپږو دلو په ګډون د دولت نظامي منظم ځواك هم په کار واچوي او له څلورو خواوو برید پیل کړي. لکه څرنګه، چې د اصلاح رسمي جریدې د همدې کال په مرغومي کې دغه خبر داسې خپور کړی و: د دربخیلو ښځو او ماشومانو خپل کورونه پرېښي او غرونو ته ختلي دي او د دربخیلو شپږ سوه تنو وسله

والو توره راپورته کړې، خو له هغوی څخه د لواني فقیر په ګډون یو سل او شل تنه اسیران شول، پاتې نور د دولت د ځواك تر بمبارۍ لاندې تباه شول. د دولت ځواکونو د دولسو میلو په واټن د دړېخېلو کورونه او کروندې ټولې بمبارۍ او تباه کړي دي او د درې ساعتونو په ترځ کې پاڅون کوونکي وځپل شول او د پکتیا خانانو او حشري ځواك ته انعامونه او مکافات ورکړل شول. شاه محمود خان اعلان وکړ، چې دړېخېل له غلام نبي خان څرخي سره یو لاس وو. له دغې پېښې څخه یوه میاشت وروسته د ۱۳۱۱ل. کال د کب په میاشت کې پاتې نور ځدراني دړېخېل د وزیرستان د خلکو په مرسته بیا پاڅېدل او مخ په خوست را روان شول.
سلطنت له پخوا څخه خبر و او له خپل ټول ځواك سره یو ځای یې په دفاع لاس پورې کړ. د هغې جګړې په ترځ کې، چې پېښه شوه د دولت توپچي او هوايي ځواکونو پاڅون کوونکي له خوست څخه په شا وتمبول.
له دې وروسته په پکتیا کې د دولت جاسوسي فعالیتونه او د کورنیو او سیمه ییزه بې اتفاقیو ور ته لمن وهل پیل او نور نو د سلطنت په وړاندې د پاڅون کولو لپاره د خلکو تر منځ یووالي ته کوم ځای پاتې نه شو. البته په پکتیا کې نویو رامنځته شویو خانانو، مخورو او اشرافي قشر له دولت څخه ملاتړ پیل او د دولت په ګټو کې ور شریك شول. د دړېخېلو پاڅون په کابل کې یو کلك غبرګون وښود او پراخه تبلیغ شو او د پاڅون کوونکو ملاتړ تر سترګو شو، خو دولت د خلکو د لا زیاتو وېرولو په خاطر امر وکړ، چې یو تن په کابل کې د هغه وخت د باغ عمومي هوټل لرونکی (صوفي غلام محمد خان) یو بل عبدالله خان نومې د کابل هټوال او یو تن جدیدالاسلام (سلطان محمد خان) باید د یوې ډلې پوځي سپرو د آسونو تر جلب لاندې پلي د ټول افغانستان په ولایتونو کې وګرځول شي او وویل شي، چې هر هغه څوك، چې د دولت په ضد د پاڅون په هکله خبرې کوي همدا به یې سزا وي او کله، چې وګرځول شول درې واړه په کابل کې زندان ته واچول شول.
هغه پایله، چې د ځدراڼ د دړېخېلو او د وزیرستان د خلکو له پاڅون څخه ترلاسه شوه، هغه دا وه چې د پکتیا هوښیار خلك په دې باندې وپوهېدل، چې سره له دې چې په پکتیا کې یو شمېر مخورو د نادرشاه د سلطنت د ټینګېدو په خاطر د سقاو د زوی په وړاندې د نادرشاه پلویتوب وکړ او د دغې کورنۍ د واکمنۍ د ټینګېدو لپاره یې خپل یو شمېر پرواني، کاپیسایي او قطغني هېوادوال ورسره وځپل، خو د دولت په نظر پرته له یوې آلې بل کوم ارزښت نه لري او حکومت غواړي، چې دوی په خپلو منځو کې یو بل سره واچوي او هم یې د افغانستان له نورو خلکو سره لاس او ګرېوان کړي. همدغه نوی احساس و، چې په راتلونکي کې یې د پکتیا خلك د سلطنت په وړاندې ډېر څیرك او محتاط کړل.
باید په پام کې ونیول شي، چې د دغو پېښو په ترځ کې یو بل پاڅون په ۱۳۰۹ل. کال د غلجیو له خوا هم وشو، چې مشرتوب یې د عبدالرحمن خان تره کي په غاړه و. حکومت د دغه پاڅون د ځپلو په خاطر هندوستاني الله نواز د دولت ځواك د مشر په توګه ور واستاوه. الله نوازخان په عبدالرحمن تره کي باندې ډېر ورتنګ کړ، نو څکه اړ شو، چې له ماتې خوړلو څخه وروسته هندوستان ته ولاړ شي. یو کال

وروسته عبدالرحمن بېرته له هندوستان څخه افغانستان ته راغی، دولت نوموړی بلخ ته تبعید کړ او هلته مېشت شو تر څو، چې مړ شو. البته د هغه یو زوی و، چې نوم یې غلام محی الدین ملګری و، هغه وروسته بیا کابل ته راغی.

## د روڼ اندو د مبارزو دوام

د غلام نبي خان تر وژل کېدو وروسته په اروپا کې د ګوند ملا ماته شوه او د ګوند د رهبري د غړو زړونه مات او لاسونه یې له کاره پاتې شول. یواځې شجاع الدوله خان و، چې له جرمني څخه او غلام محی الدین خان آرتي له ترکیې څخه د ګوند نور غړي او امان الله خان په لیکلې بڼه د بیا بیا اقداماتو لپاره راوبلل او ویې ویل، چې باید پاچا امان الله خان له دوی سره په هره لاره چې کېږي، د هېواد لویدیځ ته په پټه ننوځي، نو دا مهال به د افغانستان ټول هغه خلك، چې د نادرشاه رژیم څخه ناخوښه دي، په دوي پورې به راټول او د دغه ګوډاګي حکومت را ځملول به آسانه شي. البته پاچا امان الله خان د خپل زړه ځواك لا پخوا له لاسه ورکړی و، نو دغه وړاندیز یې ونه مانه او ګوند هم سوړ پاتې شو.

بیا هم په ۱۹۳۸م. کې (د نادرشاه تر وژل کېدو پېنځه کاله وروسته) یو ځل بیا ګوند فعالیت پیل کړ. هغه دا، چې سید سعد الګیلاني، چې په پیرشامي باندې مشهور و او لا مخکې یې له افغانستان او امان الله خان سره پېژندنه وه، له سوریې څخه د هندوستان په لاره باندې افغاني آزاد سرحد (وزیرستان) ته راغی او په ډېر پټ ډول سره یې د امان الله خان په پلوي پراخه فعالیت پیل کړ او د ظاهرشاه د رژیم په ضد یې کار کاوه. همدا رنګه یو بل افغان ځوان، چې میرعبدالعزیز نومېده او په ترکیه کې یې زده کړې کړې وې، له پولو راتیر او په پکتیا کې په کار بوخت شو، د وزیرستان خلکو، چې امان الله خان ته د غازي او د انګرېز د دښمن په سترګه کتل، د هغه په ملاتړ د شامي پیر په شا و خوا راټول شول.

د افغانستان واکمن دولت، چې له دې پېښو څخه خبر شو، په ډېره وېره یې په هند کې د انګلیس د دولت لمن ونیوله او د بهرنیو چارو وزیر فیض محمد زکریا د هند حکومت ته یوه اطلاع ورکړه او د افغانستان په آزادو سرحدونو کې یې د انګلیس د حکومت د مداخلې غوښتنه وکړه.

شامي پیر د ۱۹۳۸م. کال په جون کې د وزیرستان له مرکز کانیګورم څخه په ښکاره ووېل، چې: ظاهرشاه د افغانستان د تاج او تخت غاصب دی. موږ به پاچا امان الله خان په افغاني سلطنت بېرته راولو. دا مهال د افغانستان غلجي، چې تېر کال (۱۹۳۷م.) کې یې د دولت او نوې مالي اصولنامې په ضد پاڅون کړی و، وروسته تر جګړې له ماتې سره مامخ شوي وو، او یو شمېر یې له پولو هاخوا تښتېدلي وو، د شامي پیر خبرو ته غوږ شول. د وزیرستان په سویل کې هم اپي فقیر (مرزا علي خان) په یوه شکمن حالت کې و. نوموړی هغه ځوك و، چې په ۱۹۳۷م. کې یې په خپله د انګرېزانو په وړاندې یو پاڅون وکړ، کله چې په ۱۹۳۹ل. کال کې د پاچا امان الله خان ورور محمد امین خان له هند څخه وزیرستان ته راغی او خلك یې په کابل باندې برید ګولو ته وهڅول، خو هغه یې مخالفت وکړ. امین خان ناکام او بېرته ستون شو (اپي فقیر په ۱۹۵۹م. کې ومړ).

په همداسې وخت کې شامي پیرد وزیر و او مسعودو له لښکر سره د افغاني سرحداتو په لوري راروان شو. دامهال د افغانستان د سلطنت او د انګرېزي دولت پریشاني زیاته شوه، دا ځکه چې کله د دولت د ځواکونو د احتمالي لومړنۍ ماتې په صورت کې په ټول افغانستان کې د دغه ګوډاګي او نظامي رژیم د رانسکوریدو لپاره پاځون کېږي، خو داسې ونه شول. همدا چې د وزیرو او شامي پیر او مسعودو ځواکونه را روان شول، د انګرېزانو الوتکې والوتې او د بمونو له غورځولو مخکې یې د وزیرو او مسعودو په لښکر باندې او د خلکو په منځ کې ډېرې زیاتې پاڼې وشیندلې. انګرېزانو په دغو پاڼو باندې شامي پیر سره د یو ځای کېدو او د افغانستان په لوري د تګ له امله ګواښلي وو. تر دې وخت پورې د افغانستان هوایي او نظامي ځواکونه هم لکه د انګرېزانو د ځواکونو په شان په سرحد باندې د برید کولو لپاره چمتو شوي وو. په دریمه ورځ باندې د وزیرو، مسعودو او شامي پیر ځواکونه له پولو راپورې وتل او د ظاهرشاه د دولت له پوځونو سره مخامخ شول. کلکه جګړه پیل شوه، په داسې حال کې، چې د وزیرو او مسعودو لښکر سره یوازې ټوپک وو، دوی د افغانستان د دولت له توپونو او الوتکو لرونکو ځواکونو او د انګرېزانو له هوایي ځواک سره په جګړه اخته شول. البته د دوو دولتونو له ځواک سره مخامخ کېدل د یوه ملکي لښکر له واک څخه وتلې خبره وه.

په دې توګه د وزیرو، مسعودو او شامي پیر لښکر بېرته په شا تګ ته اړ شو او د ظاهرشاه دولت یو ځل بیا د انګرېزانو په مرسته له ړنګېدو څخه وژغورل شو. البته انګرېزان په کرار نه کښېناستل او په سیاست او دسیسې سره یې پیر شامي د افغانستان له پولو او هندوستان څخه وکېښ او د مسعودو او وزیرو ځواکونه یې خواره واره کړل. وروسته بیا انګرېزانو ادعا وکړه (د فریزر تتلر په وینا)، چې مونږ پیر شامي ته شل زره پونډه ورکړل او هغه مو راضي کړ، چې په الوتکه کې د هند له لارې څخه بهر ته ولاړ شي. آیا دغه ادعا رښتیا ده؟ مونږ هېڅ نه پوهېږو، خو محصل میرعبدالعزیزخان په پکتیا کې د حکومت لاس ته ورغی او په کابل کې د زندان په یوه کوټه کې مجرد حبس شو. په دغه کولپ شوې تیاره کوټه کې یې په دغه ځوان باندې دومره کړاوونه تېر کړل، چې په څو میاشتو کې یې د یواځیتوب او تیارې له امله حواس ګډوډ شول. په داسې حال کې یې نوکان او ږیره لکه د تیرې د دورې د وحشي انسانانو په شان اوږده او جګ شوي و او ساتونکو سپاهیانو او نورو زندانیانو له ده سره د خبرې کولو حق نه درلود. یوه ورځ یې خیال کې ورغلل، چې صدراعظم محمدهاشم خان غوښتني دی، نو چیغې یې کړې او د خپلې کوټې ساتونکی سپاهي ته یې وویل: 'دروازه پرانیزئ، چې زه صدراعظم غوښتی یم' سپاهي د ملنډو خندا وکړه او کوم ځواب یې ورنه کړ، میرعبدالعزیز خان وروسته تر چیغو او کریغو دروازه په لغتو باندې ماته کړه او د زندان انګړ ته راووت. په داسې حال کې، چې په غاړه کې یې زنځیر او په پښو کې یې زولنې پرتې وې انګړ کې ښکاره شو، نورو بندیانو د خپلو کوټو له کړکیو څخه دغې غمجنې پېښې ته کتل. دغه سړي لکه د وږي ځاروي په شان چیغې وهلې او د صدراعظم نوم یې اخیست. د زندان ساتونکي را ورسېدل هغه یې کلك ونیو او د محبس د مامور امر ته په تمه پاتې شول.

مامور په بېړه راغی، دغه پېښه يې وکتله او د لوړ مقام د امر د اخيستو لپاره بهرته ولاړ. وروسته له څو شېبو بېرته راغی، امر يې وکړ، بندي يې پر ځمکه وغورځاوه او د ټوپکو په کونداغونو يې په وهلو پيل وکړ. ميرعبدالعزيز ژر مړ نه شو او د درنو درنو ګوزارونو لاندې يې د صدراعظم نوم اخيست.

مامور غوښتل ډېر ژر دا غم پای ته ورسوي، نو ځکه يې سپاهيانو ته امر وکړ، چې په بندي باندې برسېره له بوټانو سره وخېژي او هغه د بوټانو په پوندو ووهي، يوه ساده سپاهي وويل: "مامور صاحب! که لغتو لاندې يې کړو مړ به شي" مامور وويل: "له پورته ځخه همداسې امر راغلی دی" په دې ډول سره ميرعبدالعزيز د نظاميانو تر پښو لاندې په څو شېبو کې له حاله ووت او هغه يې په يوه کټ باندې له زندان ځخه وايست.

د دغه سلطنتي زندان يو تن بندي، چې وروسته بيا خوشې شو داسې نکل کاوه:

"په هغه ورځ باندې، چې دغه جنايت زمونږ تر مخې پېښ شو، په هغه شپه هېڅ يوه بندي ډوډۍ يا اوبه خولې ته نږدې نه کړې."

کله، چې مسعودو او وزيرو ماتې وخوړه او پير شامي بېرته ستون شو، په اروپا کې د ګوند مديره هيئت له معنوي پلوه زړه توری شو او ببيخي يې له مبارزې ځخه لاس وارخيست. دا يواځې نه، بلکې د ګوند يو شمېر غړو هم په سياست کې او هم د مادي ګټو له مخې داسې تېروتنه وکړه، چې د ګوند دروندوالي ته يې د يو شمېر اروپايي هېوادونو په دننه کې زيان واړاوه او د ګوند ځوان غړي لکه محصلان او افغاني پخواني مامورين تش لاس پاتې شول او همداسې پسې تيت او پرک شول. محمود خان طرزي په اسلامبول کې او شجاع الدوله په برلين کې او عبدالعزيزخان ځرخي، سيدقاسم خان او محمد اديب خان ټولو په بهرنيو هېوادونو کې په ناهيلی سره ژوند سره مخه نه وکړه. يو شمېر نورو په بهر کې دايمي ژوند غوره کړ، لکه غلام حسن خان ځرخي، نصير احمدخان ابوي، غلام جيلاني خان قونسل، محمدرحيم خان غوربندي، دين محمدخان، عبدالله خان ناصري، عبدالله، شمس الدين خان او نور. وروسته بيا يو شمېر نور ځوانان هم له کابل ځخه وتښتېدل او بېرته هېواد ته رانغلل، لکه محمدشريف خان شوربازاری، نظامي افسر نادرشاه خان پغمانی، رحيم خان شيون. ډاکټر نظام الدين خان، مرزا عبدالرزاق خان، عبدالباقي خان، احمد راتب خان او نور... په داسې حال کې، چې غلام نبي خان ځرخي له خپل ورور، ورېرونو او د تره له زامنو سره وژل شوی و او افغاني محصل دين محمدهم د ارګ په زندان کې له نړۍ ځخه ستر ګې پټې کړې وې.

عبدالهادي داوي، چې څو کاله مخکې کابل ته راغلی و، هغه هم د کابل زندان ته واستول شو او هلته څو کاله بندي پاتې شو. هغه په زندان کې څو ځله دوه مره سپکاوي سره مخامخ شو او د ارګ د چرسي زندانوان (د ارګ د قلعه بيګي عبدالغني ګرديزي له خوا ګومارل شوی سراج الدين) له خولې يې دوه مره کنځلې واورېدې، چې مقاومت يې پای ته ورسېد او په خپل سياست کې يې نرمښت راوست. دوه تنه نور عبدالصبور نسيمي او محمدحفيظ خان هم، چې د ګوند غړي وو، په انقره کې افغاني سفارت ته ورغلل او تسليم شول (په دې وخت کې د بهرنيو چارو وزير فيض محمد زکريا په ترکيه کې د افغاني

Scanned by CamScanner

سفیر په توګه لېږل شوی و تر څو د مخالف ګوند فعالیت وڅاري او له منځه يې يوسي). دغو دوو تنو سفارت ته د ګوند رازونه وویل او کابل ته راواستول شول، خو کومه ګټه يې ورته ونکړه دواړه کندهار ته تبعید شول. محمد حفیظ خان، چې پو یاك سړی و ژړل يې او عبدالصبورخان نسیمي ته يې بد ویل، چې ګوند ته يې خیانت وکړ.

په پای کې عبدالصبور خان په دولت کې يو ښه دريځ ترلاسه کړ او يو څه وخت د مطبوعاتو د وزارت مرستيال و، خو مرګ د هغه حرص او وېرې ته د پای ټکی کېښود، کله چې هغه د اصلاح د ورځپاڼې مدير شو، خپل قلم يې لکه د چړې په شان د افغانستان ځوانو مبارزينو ته اړولی و. په پای کې د دوهمې نړيوالې جګړې په وروستي کال باندې غلام صديق خان څرخي په برلين کې د ظاهرشاه د مختار وزير الله نواز خان ملتاني په مرسته بېرته افغاني تابعيت او پاسپورت ترلاسه کړ (دغه مختار وزير د انګرېز په ګټه د جرمني جنګي وضعيت تر څارنې لاندې نيولی و او د باچا بل مختار وزير ذوالفقارخان هندي په جاپان کې همدا دنده په توکيو کې لرله). په پای کې غلام صديق خان هم مړ شو. له دوهمې نړيوالې جګړې څخه درې کاله وروسته پاچا امان الله خان چې نه يوازې په بهر کې د افغاني ځوانو مبارزينو د ګوند محور و، بلکې د افغانستان د ټولو روڼ اندو او خلکو د پاملرنې وړ څېر هم وه، دومره د خپلو کورنيو او بهرنيو دښمنانو د اقتصادي فشار او سياسي تلقين او تبليغي دسيسو تر اغېزې لاندې راغی او دومره وټکول شو، چې افغانستان ته بېرته د هغه د راستنېدلو د شرايطو د برابرېدو سره سره چې هندوستان نور له انګرېزانو څخه تش شوی و، واکمن رژيم د خلکو د کرکې وړ ګرځېدلی و او واکمن سلطنت ايك يوازې پاتې و او له بلې خوا د دوهمې نړيوالې جګړې په پای ته رسېدلو سره د نړيوالو خواکونو تعادل په نړيوال سياست کې غوره بدلون موندلی و، خو بيا هم نوموړي هېڅ کوم ګام اوچت نه کړ، بلکې په ۱۹۴۸م. (د ۱۳۲۸ل. کال د لړم په دوهمه) کې يې لاندېنی بيعت ليك په خپل خط ظاهرشاه ته راواستاوه:

اعليحضرت د افغانستان پاچا، ګران ارجمند محمدظاهرشاه!

نن ورځ، چې سياسي، انقلابي او اقتصادي کړکېچ په ټوله نړۍ کې، په تېره بيا په ختيځ کې روان دی، نه غواړم چې له تاسې اعليحضرت څخه زما جلاوالي څخه بد غوښتونکی او انګازې جوړوونکې ګټه اوچته کړي او زمونږ په وطن کې د ترقي او تمدن د راتګ په لاره کې تيرې واچوي.

لکه څرنګه، چې اورم تاسې اعليحضرت د هېواد په ترقۍ او نوي کولو کې ګام اوچتوئ، خدای له تاسې او ستاسې ملګرو سره دی. زما دعا په سپېڅلې کعبه او مدينه منوره او هر ځای کې همدا ده، چې الهي د افغانستان خاوره او خپلواکي ته وساتې. يا الله او يا ملك الملك، له دې امله، چې د افغانستان ملت ستاسې تر سيوري لاندې په سوله او کراري کې ژوند تيروي، زه هم د دغه ملت يو غړی او د همدوی له وينې څخه يم، نو ځکه دغه بيعت ليك ستاسې اعليحضرت ته درلېږم او ژمنه کوم، چې ستا وفادار دوست به پاتې شم. زه د سلطنت کومه هيله نه لرم... ﴿...وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ﴾. خدای تاسې په پاچاهۍ کلك وساتي تر څو د افغان قوم د آزادۍ په لاره او د دوی د

خپلواکۍ په ملاتړ او د افغانستان د ناموس په ساتنه کې غوره خدمت وکړئ او د افغانستان ملت تر الهي حکم لاندې (شاورهم في الامر...) او د اسلامي دیموکراسي او د اسلام د عدالت سره سم د ترقۍ لوړ پړاو ته ورسوئ.
زه او تاسې اعلیحضرت دواړه له یوې کورنۍ او له یوې وینې څخه یاستو، په تېره بیا ستاسې له پلار، زما ګران وروړ اعلیحضرت محمدنادرشاه شهید سره هم زما د پلار اعلیحضرت حبیب الله خان شهید پر مهال او هم زما په خپل دوران کې یو د بل نږدې دوستان او په خپلې دوستۍ مو په هر وخت کې وفاداري ښودلې وه. د هغوی د سلطنت په پیل کې مې یو تلګراف هم ور واستاوه. مخکې، چې ستاسې تره زما وروړ والا حضرت شاه ولي خان او په روم کې ستاسې سفیرانو ته په دې اړه، چې یو بل څخه جلا نه اوسو، یادونه کړې ده. زما هیله، چې ستاسې د ملت یو وګړی یم داده، چې فقط او فقط په ګران افغانستان کې سوله او ترقي وي. له الهي درګاه څخه د ګران وطن نیکمرغي او ستاسې بریالیتوب غواړم. امان الله.
دغه پېښې په ختیزو هېوادو کې د انګلیس د دولت د د اټکلونو د دقت او د دوی د خیرکتیا او پوره پاملرنې ښکارندوی دی، چې دا څرګندوي، چې هغوی په څه ډول سره کولای شو، چې خپل یو لاسپوڅی ګوډاګی دولت دوامدار او میراثي وګرځوي او څرنګه یې کولای شول، چې ددې ډول یوه دولت سیال وطنپال په معنوي او مادي لحاظ وځپي. آن دا، چې هغه مهال چې دوی هندوستان پرېښود او په افغانستان کې یې د نادرخاني رژیم یوه سیاسي خلا په هوا کې پرېښې وه. شجاع الدوله یې په برلین کې په ناڅرګنده توګه له منځه یووړ (هغه سره ملګرې ښځه یوه انګرېزي نجلۍ وه، چې په لندن او جرمني کې یې هغه یوه شبېه هم یواځې نه پرېښود) او امان الله خان دښمن ته په تسلیم کېدو اړ شو.
په هر حال، د اصلاح رسمي ورځپاڼې د ۱۳۲۷ل کال د لړم د ۲۲ مې (د ۱۹۲۸م.) کال د نومبر د اتلسمې نېټې په ګڼه کې د امان الله خان د دغه لیک په خپرولو پسې وروسته ولیکل:
"... پرون د دواړو جرګو غونډو د هغې عریضې په هکله بحث وکړ، چې مخلوع پاچا امان الله خان د اعلیحضرت همایوني حضور ته د بیعت لیک په توګه رالېږلې وه او په هغې کې یې غوښتنه او هیله کړې وه، چې له دې امله چې یو افغان و او اوس هم د یو افغان په توګه وپېژندل شي او د اعلیحضرت معظم د حکومت د تابعیت تذکره ورته ورکړل شي... وروسته تر بحثونو او یو شمېر خبرو څخه، چې د نوموړې په هکله وشوې... ددې مسئلې په هکله داسې پرېکړه وشوه، چې له دې امله چې امان الله خان د ملت له خوا خلع شوی دی، خو د اسلامي شئونو او افغاني دود له مخې په داسې حال کې، چې اعلیحضرت همایوني د خانګړې لورېینې له مخې دا ومنله. نو د هغه غوښتنه ومنل شوه او د تابعیت تذکره به ورکړل شي."
ددغې خواشینونکې او غمجنې لوبې په ترسره کولو سره په بهر کې د افغاني مبارزو وطنپالو د ګوند تغر ټول شو او د هغو ټولو سرښندلو په بدل کې امان الله خان ته ایله د تابعیت حق ورکړل شو. ګواکې هغه د خپلواکۍ په اعلانولو او د ترقۍ او بدلون د لارې په پرانیستلو سره یې افغانستان او ملت ته

Scanned by CamScanner

(خیانت او جنایت) کړی و او اوس دا دی د ظاهرشاه د عفوې او بخښنې ور وګرځېد. حال دا، چې انګرېزانو په لسهاوو تالي څټې لکه الله نواز ملتاني او شاه جي پنجابی او داسې نور د افغانستان د (اصلي) اتباعو په توګه د هېواد د چارو په سر کې وو.

## د هېواد دننه مبارزه

د هېواد دننه له هغې ورځې راهیسې، چې د نادرشاه سلطنت ټینګ شو، د افغانستان روڼ اندي د دولت له خوا د دین او د دولت (دښمنان) وبلل شول او د هغوی په وړاندې هر ډول پروپاګندې او له دښمنۍ ډک تورونه او چلونې روانې وې. دوی د دولت له څارنې او سپکاوي سره مخامخ وو او واکمنې کورنۍ په ښکاره توګه دوی د کفر رواجوونکي او زندیق ګڼل او د اړ دوړ کوونکو په توګه یې ښودل او د ملایانو او ځمکوالو قشر یې د دوی په وړاندې هڅاوه.

په خپله نادرشاه به ویل: "د افغانستان د میلیونونو نفوسو په منځ کې یو څو ځوانانو تحصیل کړی ځوانان کوم ارزښت نه لري" له همدې امله نوموړي غوښتل، چې دغه لږ شمېر په بې روحه وسیلو او خاینو باندې بدل کړي. ددغې موخې د ترلاسه کولو لپاره یې لومړی ځوانان له دندو لرې، له ښوونځیو څخه وایستل، ویې ګواښل او د تبلیغ په واسطه یې بدنامه او د جاسوسۍ څارنې له لارې یې له ټولې ټولنې جلا کړل او بیا یې د پیسو او رتبې په ورکولو وهڅول او ویې ګومارل. که څوک به ورسره سم نه تلل نو به یې وځاپه او که چا به مخالفت وکړ، نو یا به زندان یا به غرغرې ته بیول کېده. له دې پرته، چې دوی به اعدام کېدل مال به یې مصادره کېده یا به هم تبعید کېدل. د دوی ماشومان او خپلوان هم له مامورینو او ښوونځیو څخه شړل کېدل او په خپلو سیمو کې به د ملي خاین په توګه په اجباري توګه تجرید کېدل، تر څو به چې د ویرې او خواشینۍ له لاسه په ځانته والي او ګمنامۍ کې ورک او مړه شول.

هغه روڼ اندي به، چې حبس یا اعدام شول په کورنیو باندي به یې بېلابېلې دعواګانې کېدې. آن دا، چې د یو شمېر نامتو څېرو لکه د محمدولي خان او غلام خان او نورو کورنۍ د دولت د جاسوسو ښځو په واسطه، چې ځانونه به یې په غلطه دغو کورنیو پورې تړل، تورن کېدل او بدنامه کول به یې. دافغانستان د واکمنې کورنۍ د سلطنت او د انګرېزي ښکېلاك د سیاست یو لاره دا وه، چې د افغانستان د مبارزو او وطنپالو مېړنیو د ویاړونو د بربادولو په خاطر به یې هڅه کوله، چې دوی ته د مادي او معنوي ګړاوونو له ورکولو وروسته به یې هغوی په یوه بڼه د خپل سیاست په لومه کې راګیر کول او په ادارو کې به یې په ګډون ورکولو سره د خلکو په نظر شکمن او د رژیم په پلویتوب به یې بدنامه کول. که چېرې به دولت په دغه لاره کې ناکام شو، نو ددغه ډول کورنۍ یو بل غړی (لکه ورور، زوی خپلوان یا بې ملګری) به یې دغه ډول کار ته غوره کاوه او په دې ډول سره یې غوښتل، چې یو ویاړلې وګړي، کورنۍ، ډلې او ګوند ته کوم ویاړ ور پرې نه ږدي.

کله، چې ما لیکوال په ۱۹۳۰م. کال کې د جرمني په افغاني وزارت مختاري کې له سر کتابت څخه استعفا وکړه او کابل ته راغلم، تر څو د نادري ښکېلاکګرو د نوکر او استبدادي دولت په ضد د

وطنپالو په مبارزه کې ورګډ شم، (باید ووایم، چې دا وخت یو یو وطنپال مبارز له بهر څخه هېواد ته راستنېدل، تر څو وکولای شي د خپلو ډله ییزو پرېکړو سره سم خپل سپارل شوې دندې د نادرشاه له دولت سره د ژوند او مرګ د کلکې نښتې په ترڅ کې پر مخ بوځي). نو دا وخت د کابل والي عبدالاحد خان ماهیار وردك وروغوښتم او په لیکلې بڼه یې راڅخه پوښتنې وکړې. په دغو پوښتنو کې یې د یو شمېر خلکو د نومونو یو اوږد لست زما د مخالف سند په توګه زما مخې ته کېښود او پوښتنه یې کړې وه، چې ولې له دغو کسانو سره ناسته ولاړه کوم، خو دا یې هم راته ووېل، چې که ژوند کول غواړې، نو له دغو خلکو او نورو کسانو سره باید لیده کاته ونه کړې، یعنې دولت غوښتل، چې خلك خپل ځان سره او د خپلو کورونو دننه بندیان کړي.

څو میاشتې وروسته، چې زه د کابل د ادبي ټولنې غړی وم، په خپله نادرشاه د ارګ د ګلخانې ماڼۍ ته وغوښتم. پاچا یواځې ناست و او قره قل خولۍ یې په سر وه (دغه کورنۍ هغه مهال لوڅ سره نه کښېناستل) ماته یې امر وکړ، چې کښېنم او وروسته تر لږ ځنډ چوپتیا څخه یې په خبرو پیل وکړ. د چشمکو له شا څخه یې سوړ نظر په ډېر وچ ډول او په ظالمانه بڼه پر ما واچاوه او ویې ویل:

"زه افغانستان د امن په حالت کې غواړم، لکه هغسې مې چې یو ځل خپل او د خپل بچ و کچ (دا یوه هندوستاني نګه اصطلاح ده) ژوند د سقوي اشرارو له ظلم څخه د هېواد د خلاصون لپاره نذرانه کړی و، راتلونکي کې هم د افغانستان د امن او هوساینې لپاره له هر هغه ډول ګام اوچتولو څخه، چې په کار وي، ډډه نه کوم. د افغانستان ټول قومونه او قبایل له علماوو (ملایانو) او خانانو سره یو ځای د حکومت تر شا ولاړ دي، خو یو شمېر کم تجربه ځوانان ددې او د هغه د لاس وسیله ګرځي او خپل ځانونه په خطر کې اچوي. زه غواړم، چې دوی سم کړم او له خطر څخه یې وژغورم. په همدې خاطر مې تاسې غوره کړي یاست، چې مونږ سره مرسته وکړئ."

په هر حال، سره له دې چې زه پوهېدم، چې ددغه ځواکمن او کینه ګر سړي بلنې ته د نه ویل د ځان وژنې معنا لري، خو بیا مې هم ورته ووېل: "زه چې د یوه لیکوال په توګه د ادبي ټولنې غړی یم خبر یم، چې په څه ډول سره د خپل وس سره سم خپله دنده، چې د افغانستان د خلکو د تاریخ روښانه کول او لیکل دي، ترسره کړم، خو هغه څه چې زما له ملي دندې څخه بهر وي ډډه ورڅخه کوم، نو ځکه نشم کولای، چې..."

لا مې خبره نه وه بشپړه کړې، چې پاچا ووېل: "بس بس غلام محمد خانه پوه شوم" هغه دغه خبره په احساس کېدونکي بدلون سره وکړه او خپله خولۍ یې له تندي څخه لږ شاته وښوویله. ما داسې احساس وکړ، چې نادرشاه د یوه داسې عادي سړي په وړاندې له خپلې ماتې څخه عصباني شو، چې ژوند یې دده په لاس کې دی. زه چې کله په پاریس کې د افغاني وزارت مختاري په دفتر کې سکرتر وم او نادرشاه وزیر مختار و، په دې پوهېدلی وم، چې هغه د هغه څه برخلاف، چې خلك وایي ډېر عصبي مزاجه او په طبیعي ډول ژر خپه کېدونکی او ډېر غچ اخیستونکی سړی دی، خو د سیاست له مخې یې ځان په اجبار او تصنع سره حلیم او زغم لرونکی ښوده. زه پوه شوم، چې هماغه شېبه یې پرېکړه وکړه، چې ما او زما کورنۍ له منځه یوسي او لږ وروسته ده همدا کار وکړ.

Scanned by CamScanner

په هر حال، زه په یوې لنډې خبرې سره راووتم، کله چې له کوټې څخه بهر راغلم، د وره شاته مرزا نوروز خان سرمنشي او عبدالغني خان قلعه بیګي ولاړ وو او ورڅخه راتیر شوم. کله چې کور ته راورسېدم، نو له دې کبله چې پوهېدم چې حبس او اعدام مې حتمي دی، یو ځل بیا مې خپل تاریخي یادښتونه وکتل او دغو یوه برخه مې د تاریخ د یو شمېر درج کولو وړ انځورونو سره له ډاډمنو کسانو سره کېښودل.

څو ورځې وروسته نادرخان خواجه هدایت الله، چې یو وطنپال ځوان و، وروغوښت او هغه مخکینی خبرې یې ورته وکړې، خواجه خو په ځرګنده د پاچا خبرې ته هو وکړل او په کار یې پیل وکړ. پاچا په دارالامان کې هغه ته یو بڼ او یوه کلا ورکړه. هغه په ښکاره ډول ځوانانو ته د بلنې ورکولو غونډې جوړولې او په آزاد ډول یې خبرې کولې. خواجه په دغو غونډو کې، چې د پاچا د جاسوسانو تر څارنې لاندې و، له یو شمېر روڼ اندو او ملګرو سره خپل اصلي مطالب هم ځرګندول او د دولت خیانتونه او له انګریزانو سره یې جوړجاړي او آن دا، چې د افغانستان او انګلیس د هغه پټ تړون په هکله یې هم خبرې وکړې، چې د شاه ولي خان په لاس شوی و او د رژیم په ضد یې د ځوانانو د عملي فعالیت د اړتیا په هکله خبرې وکړې.

حال دا، چې د هغه خبرې او هر کار سلطنت ته رسول کېدل، خواجه په هزاره جات کې د پاچا امان الله خان په پلویتوب او په ډیلي کې یې په افغاني جنرل قونسلګرۍ کې د نادرشاه د رژیم په ضد فعالیتونه وکړل او اوس نو په ښکاره د پاچا د دوکې په لومه کې لوېدلی و، نو یو ناڅاپه ونیول شو او شتمني یې ضبط شوه او د ۱۳۱۲ل. کال د وړې په میاشت کې د دهمزنګ په ډګر کې غرغره کړل شو. د هغه پخوانی سرکاتب مرزا حسن علیخان یې په زندان کې واچاوه او د خواجه خپلوان یې کندهار ته تبعید کړل.

کله چې دلته د سیاسي تورنو کسانو له بند، مصادرې، اعدام او تبعید څخه یادونه کېږي، هغه باید په تحت اللفظي مفهوم ونه پېژندل شي، بلکې ددغې واکمنې کورنۍ د سلطنت پر مهال باید د تورنو په هکله ددغو سزاګانو د تطبیق په څرنګوالي کتنه وشي، په تېره بیا هغه مهال، چې ددغې ډارنې، ظالمې او په عین حال کې د حریص او تمه لرونکي دستګاه په ضد د وطنپالو روڼ اندو مبارزه پیل شوه.

په هر حال، د افغاني روڼ اندو مبارزه د نادرشاه د رژیم په ضد په دوو کورنیو او بهرنیو سنګرونو کې غبرګه پیل شوه، خو په بهر کې سره له دې، چې ګوند څه نا څه پیاوړی او آزاد و، افغاني محصلان او منورین په څلورو برخو باندې وویشل شول. یوه ډله د پخواني ګوند غړي وو، بله ډله له ګوند څخه بهر پاتې شوه. دوی په عین حال کې هم له ګوند او امان الله خان سره مینه ښودله او هم یې په خپلواک ډول خپله لار وهله، لکه په (دراز) باندې مشهور محمد عمرخان، میرعبدالرشید خان بیغم، سید کمال خان، دین محمد خان، عبدالله خان ناصري (دغه دوه وروستي کسان په جرمني کې مړه شول) او نور. دریمه ډله د افغانستان په نوي سلطنت پورې تړلي وو، چې وروسته کابل ته راغلل او هر یو یې یو لوړ دریځ ته ورسېد لکه پروفیسر انورعلي خان هندي نژاد، محمدعتیق خان محمدزی (د کرنې او لویو ځمکو وزیر) او خو تنه نور... څلورمه ډله ناپیېلي خلك وو، لکه عبدالغني خان، محمود خان، میراحمد خان، عبدالله شمس الدین خان، عبدالله خان طرزي، علي ګل خان او نور...

Scanned by CamScanner

د لومړۍ ډلې یعنې د ګوند د غړو له کارونو څخه مخکې یادونه وشوه. خو بلې ډلې (له ګوند څخه بهر) هر یوه په جلا جلا توګه له نوي سلطنت سره مخالفت کاوه، چې په دوی کې دوو تنو ډېر کلك هوډ وکړ او په برلین کې یې مختار وزیر محمدعزیزخان (د پاچا ورور) د ترور پرېکړه وکړه.

## د نادرشاه د ورور وژل کېدل

دوه تنه محصلان د کابل اوسېدونکي وو. یو یې په برلین کې په زده کړه بوخت و او بل یې سید کمال خان، چې د یوې ببوزلې کورنۍ غړی او د مسګرۍ کار کوونکی و. چې تر زده کړو وروسته یې د (ماکدې برګ) په فابریکه کې کار کاوه. سید کمال خان یو منځنی ونه لرونکی سپین رنګه ځوان و، چې په غومبورو یې د کویي ټاپې ښکارېدل. له دېرشو کلونو یې عمر زیات و. یو طبیعي او غلی ځوان و او یوه جرمنۍ کوژدنه یې وه. چې (هرتا) نومېدله. کله. چې سید کمال خان برلین ته راغی له کابلي ملګري سره یې ناسته پاسته زیاته شوه او دواړه په افغانستان کې د موجوده واکمنې کورنۍ په هکله چې په هېواد د دوی تر نقاب لاندې انګرېز ویجاړوونکي نفوذ کړی. خبرې یې سره وکړې او استبدادي سلطنت او ارتجاعي روش یې د افغان ملت د بربادۍ لامل وباله. نو ځکه دواړو پرېکړه وکړه. چې د کورنۍ ارتجاع او بهرني استعمار په وړاندې د مبارزې په لاره کې خپله ملي او انساني دنده ترسره کړي. دوی د ببوزلۍ په ورځو کې یوائې د پنځوسو فنیکو کرم اخیست هغه به یې پخاوه او خوړل به یې او خپله نقشه یې جوړوله. په پای کې دې پایلې ته ورسېدل. چې له دې امله چې د افغانستان موجوده سلطنت د انګرېز لاسپوځی دی او د افغانستان د دښمن په لاس افغانستان ویجاړوي او د انګلیس دولت داسې فکر کوي، چې د افغانستان ملت په دې نه پوهېږي. نو ځکه باید د افغانستان ځوانان د انګلیس دولت ته وښیي. چې انګرېزان که تر هر نقاب لاندې افغانستان ته ننوځي. د افغانستان ملت خپل رښتینی دښمن پېژني او په خپل وخت سره به خپل حساب-کتاب ورسره سپینوي. خو په څه ډول سره باید دغه پروتست دانګلستان په پته ور واستول شي؟ سید کمال خان او د هغه کابلي ملګري پرېکړه وکړه. چې له یو نامتو متل سره سم آس ووهي تر څو یې خاوند وویروي. طبیعي خبره ده، چې اس په افغانستان کې موجوده سلطنتي کورنۍ او خاوند یې انګرېزان وو، چې ورباندې سپاره وو او دوی اوس ددغې کورنۍ په یوه غړي باندې لاسبري وو.

د نادرشاه مشر ورور، د محمد داودخان پلار سردار محمد عزیزخان، په برلین کې د افغانستان مختار وزیر یو لږ سواد لرونکی او درباري سردار و. چې ډېر کبرجن و.

هغه د امانیه په دوره کې په پاریس کې د افغاني زده کوونکو سرپرستي په غاړه لرله هلته زیات زده کوونکي د هغه له چلند څخه خپه او ناخوښه وو. دا ځکه چې ده به ویل، چې دا د افغانستان د معارف د وزارت تېروتنه ده، چې د ډولك او ډنبك هلکان (یعنې د ببوزله طبقې او متوسطو کورنیو اولادونه) یې د زده کړو لپاره اروپا ته رالېږلي دي. د هغه په نظر باید په بهر کې زده کړې یوائې د اشرافو او اعیانو د زامنو لپاره وي، په تېره بیا دحقوقو اداري او نظام په هکله، کله چې سلطنت ددغې واکمنې کورنۍ

لاس ته ورغی، نو ښکاره خبره ده، چې محمد عزیزخان به په دغې روحیې سره له افغاني روڼ اندو او زده کوونکو سره څه ډول چلند کاوه؟ هغه دخپل ورور د سلطنت په پیل کې د سیاسي ظواهرو ترلاسه کولو لپاره په مسکو کې افغاني سفیر شو، دا ځکه چې بل ورور یې (شاه ولي خان) د لندن سفارت ته تللی و، تر څو د انګلیس له دولت سره تل او له نږدې اړیکې ولري، کله چې په اورپا کې د افغاني روڼ اندو فعالیت پیل شو، نو د هغو د څارنې او بې اغېزې کولو لپاره شاه ولي خان پاریس کې او محمدعزیزخان په برلین کې په سفارتونو کې وګومارل شول، (البته په لندن او مسکو کې د دوی ځایونه د شاهي کورنۍ دوو نورو غړو احمدعلي خان او عبدالحسین خان عزیز ته ورکړل شول.) په برلین کې محمدعزیزخان پرته له محمدزیو او هندیانو څخه له نورو ځوانو افغانانو سره ډېر بد چلند کاوه. هغه به په خپلو خبرو کې په څرګند ډول سره د کورني استبداد او د انګرېزانو د ښکېلاك پلویتوب کاوه او د ترقی، بدلون او انقلاب په ضد به یې خبرې کولې. د هغه مشاورین یو تن محمدزی محمد عتیق خان او د هغه ملګري یو هندي الاصل انور علي خان وو، چې دواړه افغاني زده کوونکي ووز دوی به د سردار ساتنه کوله او د سفارت په دندو کې به یې ورته لارښوونه کوله.

سید کمال خان او ملګري یې پرېکړه وکړه، چې ښاغلی سفیر به په ړښا ورځ د ټولو تر مخې په افغاني سفارت کې ترور کوي او بیا به ځانونه د جرمني پولیسو ته وسپاري او د تحقیق او محاکمې په ترڅ کې به وایي، چې دا یو پروتستي عمل و، چې په افغانستان کې د انګرېزي دولت د نفوذ په ضد د افغانانو له خوا ترسره شو، دا ځکه چې انګلیسي دولت دغې لاسپوڅې کورنۍ په لاسونو په افغانستان کې خپل واك پراخوي او هېواد د وروسته پاتېوالي او بېوزلي خواته بیایي. په دې توګه به د هغوی شعار د جرمني په اخبارونو کې خپور شي. وروسته تر دغې پرېکړې څخه د سید کمال خان او د هغه د ملګري تر منځ ددغه کار د ترسره کولو په سر ناندرۍ پیل شوې، دواړو ویل، چې د یوه تن ترور باید د یوه تن په لاس په ترسره شي نه د دوو تنو په لاس. سید کمال خان یوه کوژدنه لرله او هغه باید یو اخې پاتې نشي. خو سید کمال خان د خپل ملګري داوطلبي رد کوله او ورته ویل یې آیا ته نه غواړې، چې زه هم د افغانستان لپاره د چوپړ په لاره کې یو کوچنی ویاړ وګتم؟ په پای کې یې پرېکړه وکړه، چې پچه به واچوو، دا مهال یې په دوه ټوټو کاغذونو باندې دواړو نومونه ولیکل او سره ګډ یې کړل او په میز باندې یې واچول، لومړي لاس چې لومړی کاغذ راپورته کړ هغه د سید کمال خان نوم و، چې ناڅاپي بې خپل نوم راوخوت. سید کمال خان په خوشحالی سره د خپل ملګري تندی د خدای پامانی په بڼه ښکل کړ او د خپل ملګري (موزر) تومانچه یې ځان سره واخیسته، په هغه سبا سه شنبه د ۱۳۱۱ل. کال د غبرګولي په شپاړسمه (د ۱۹۳۲م. جون) سید کمال خان په (لیسنك شتراسه) کې د افغاني سفارت د دروازې تر مخې کوز شو او د دروازې زنګ یې وشرنګاوه. جرمني څارونکي (شولتس) د هغه کارت واخیست او هغه په دهلیز کې په تمه کښېناست، البته دغه شېبې اوږدې شوې، دا ځکه چې د امانیه دورې د سفیرانو سرچپه، چې له محصلانو سره یې لکه د خپلو زامنو په شان چلند کاوه، دا دی د

نادرشاه سفیرانو چلند د هېواد له ځوانانو زده کوونکو سره داسې پردې او وچ او بې پامه و، چې لکه د هندوستان انګرېزي وایسرا به، چې هندي اتباعو سره کاوه.

سفیر پاس په بل پوړ کې له عتیق خان رفیق او انورعلي خان سره په خبرو بوخت و او سید کمال خان په لاندې دهلیز کې د ودانۍ د زینې مخامخ قدم واهه. وروسته تر یوه ساعت څخه سفیر له خپلو ملګرو سره له کوټې راووت او د زینې په لومړي پوړۍ یې ګام کېښود، توربخنه دریشي یې په غاړه وه او په ګوته باندې یې د الماسو غمي لرونکي ګوتمۍ وه او یو برلیاني غمي یې په نکټایي باندې ځلید. د سفیر تر شاعتیق خان او د عتیق شاته انورعلي خان را روان وو. سید کمال خان تر زینې لاندې دومره تم شو، تر څو چې سفیر د زینې تر نیمایي پوړۍ راکوز شو، دا مهال یې خپله تومانچه باندې د سفیر ټټر په نښه کړ. دوهمې ګولۍ یې ټټر ور سوری کړ او له اوږې یې وښوییده او د عتیق خان له اوږې څخه تېره شوه، چې د زینې په پورته پوړیو کې را روان و. په دې توګه د واکمنې کورنۍ لومړني غړي د ژوند له جاه و جلال او پرتم څخه سترګې پټې کړې.

سید کمال خان د سفیر تر وژلوو وروسته خپله تومانچه یوې خوا ته وغورځوله او خپله ودرېد، چې پولیس راورسېږي. په لږ شېبه کې د تیلیفون غږونه اوچت شول او ډاکټر او پولیسان راورسېدل. سید کمال خان د (موابیت) زندان ته واستول شو او هلته څو میاشتې پاتې شو. د سید کمال کوژدنې هر تا څو خله هڅې وکړې، چې د یوه وکیل الدعوا په مرسته هغه اړ کړي، چې د محکمې د تحقیق پر مهال د خپل دغه عمل لامل د سفیر له خوا دده د حق تلف کېدل، پورورتوب، لوږه او داسې نور وښیي، نو په دې صورت سره به دده سزا له ابدي حبس او اعدام څخه اووه کاله بند ته راټيټه شي او ژوند به یې وژغورل شي. البته سید کمال خان د خپلې کوژدنې د اوښکو په وړاندې هېڅ ونه ویل، تر څو چې د پرېکنده محاکمې ورځ راورسېده هغه په محکمه کې پاڅېد او د خپل مدافع وکیل سرچپه یې وویل:

"د افغانستان موجوده سلطنت، چې محمد عزیزخان یې یو غړی دی، د انګرېزانو تر واک لاندې عمل کوي او هېواد یې ویجاړ کړی، زه چې یو افغان یم، په بشپړ عقل او پوره فکر سره مې دغه سړی مړ کړ تر څو په دې توګه په افغانستان کې د انګرېزانو د واک او ددغه سلطنت په وړاندې د افغانستان د ملت له غوسې ډکه کرکه نړۍ ته اعلان کړم." په دې هکله په کابل کې دانګرېز مختار وزیر فریزر تتلر په خپل یوه کتاب کې لیکلي وو:

"... د ۱۹۳۲م. کال په جون کې سید کمال محصل، محمدعزیز مړ کړ او اعلان یې وکړ، چې دده دغه عمل په افغانستان کې د بریتانیا د لاس او واک په وړاندې د پروتست د ښودلو په خاطر ترسره شو..."

(افغانستان نومې کتاب، د لندن چاپ- ۲۴۰ مخ) تر دې مهال پورې په کابل کې دولت او په برلین کې یې استازیو سفارت ته او د جرمني د بهرنیو چارو وزارت ته ډېر په ټینګار سره وویل، چې سید کمال خان باید اعدام شي، که نه پرته له هغه به د افغانستان هېڅ سفیر ته په اروپا کې د ژوند تمه پاتې نه شي، د سید کمال د ژوندي پاتې کېدو په صورت کې به افغانستان د جرمني له هېواد سره هر ډول سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکې پرې او د هغوی ټول کارکوونکي به له افغانستان څخه وکاږي. په

Scanned by CamScanner

برلین کې دغه کار ته تر هر چا زیات عتیق خان او انور علیخان زور ورکړی و، چې دوی دا کار د جرمني د بهرنیو چارو د وزارت په وړاندې د الله نوازخان په مشوره کاوه. دا ځکه چې دوی په دې ویرېدل، چې د جرمني محکمه به سید کمال ته د اعدام د سزا پر ځای د عمري بند سزا وټاکي.

په پای کې سید کمال خان په اعدام محکوم او یوې ځانګړې کوټې ته راوستل شو، په داسې حال کې، چې د افغانستان د سفارت استازی الف خان د شاهد په توګه ناست و. دغه سړی له پولو پوري یو افغان و، چې یو وخت یې د هند په انګلیسي اردو کې کار کاوه او د نړېوالې لومړۍ جګړې په ورځو کې د جنګي بندیانو په ډله کې د جرمنیانو لاس ته ورغلی و او کلونه کلونه همالته پاتې شو او بیا یې په جرمني کې له یوې جرمنۍ سره واده وکړ او په برلین کې د افغاني سفارت دننه د ژباړونکي په توګه مقرر شو. په دې وروستیو کې کابل ته راغی او همدلته مېشت شو. چې د دغه کتاب تر لیکلو څو کاله مخکې مړ شو.

سید کمال خان په دغه کوټه کې له یوه کشیش سره مخامخ شو، چې د مسیحیانو په دود د هغه اعتراف د اورېدلو لپاره راوستل شوی و. البته سید کمال خان هغه ونه مانه او ویې ویل: زه مسیحي نه یم. همدا رنګه کله. چې یې غوښتل چې هغه د «موابیت» د زندان اړوند د غرغرې خونې ته بوځي ورته وویل شول، چې په دسمال باندې خپلې سترګې وتړي، خو هغه دا هم ونه منله. بیا یې خپل کمیس وکیښ او یواځې له پتلون سره وژنځای ته وړاندې شو، لږ وروسته د جرمني له معمولي طریقې سره سم ووژل شو او د دغه مبارز ځوان نوم د افغانستان په تاریخ کې پاتې شو.

د سید کمال خان یواځینی تره. چې ښځي بوډا شوی و او په غوږو یې څه نه اورېدل لا هم د کابل د مسکرې په رسته کې په خپله کوچنۍ هټۍ کې د ځټك په وهلو لګیا و او د ورځې له پېښو هېڅ خبر هم نه و. ناڅاپه د کابل وسله وال پولیس ورباندې ورغلل او د هغه بې ګناه بوډا لاسونه یې وتړل هغه پوښتنه کوله، چې څه خبره ده؟ پولیسو په خواریو هغه پوه کړ، چې د کوتوالي قومندان غوښتی دی، دا ځکه چې هغه د ستونزو له امله د اورېدلو حس له لاسه ورکړی و او عادي غږونه یې نه اورېدل. په هر حال، هغه یې بوت، خو د قومندان د دفتر پر ځای د غرغرې له دار سره مخامخ شو. د غرغرې په لیدلو سره یې اوبه وغوښتې، اودس یې وکړ او دوه رکعته لمونځ یې وکړ. لا یې کلمه په ژبه وه، چې د غرغرې رسۍ یې په غاړه کې ور واچوله، لږ شېبه وروسته د غرغرې په رسۍ پورې ځوړند و. ماښام مهال یې په نږدې کور کې ښځه او ماشومان له مړي چاپېر وو او په پټه خوله یې چوپ ژړل.

په بهر کې د افغاني مبارزینو د فعالیتونو له دغو ټولو پېښو سره سره، چې له هېواد څخه بهر روانې وې، د انګرېز د سیاست او سلطنت په وړاندې د مجادلې ډېر دروندبار او لوی خطر د هغو مبارزینو په اوږو و، چې د هېواد دننه اوسېدل، دا ځکه چې دغه قشر چې هم یې شمېر لږ و او هم نامنظم او تیت او پرك ول. مخامخ او په سیده توګه د انګرېزي جاسوسي تر څارنې لاندې او د سلطنت تر ساطور لاندې و. دوې هېڅ ډول د پټېدو ځای نه درلود او نه یې هم د مبارزې منظم وسایل لرل او لا هم دوی د انګرېزانو

توطئې او چلوتو سره مخامخ او د یوه دوکه ګر سلطنت له غولوونکو دسیسو سره پوره آشنا نه وو، نو ځکه د یوه بې وسلې اتل په شان د زغره وال دښمن مخامخ جګړې ته ور روان وو.

## د روڼ اندو د مبارزو ډولونه

د روڼ اندو د مبارزې مرکز کابل و. دغه ډله حاکمه دستګاه ته نږدې او د واکمنې کورنۍ غدارانه او دوه مخی سیاست او د هېواد په بهرنیو او کورنیو چارو کې د بریتانیا د عمالو له لاسوهنې ځخه د نورو په پرتله ډېر خبر و، نو په زړورتیا سره له هغوی سره د مقابلې ډګر ته ور ووتل. لومړی یې د سلطنت نیتونه او کړه وړه بربنډ کړل. د واکمنې کورنۍ اصلي بڼه او د انګلیسي دولت له دښمنۍ ډک سیاست یې د هېواد له بدې راتلونکې سره یو ځای تشریح کول. وروسته یې د منظوم او منثور و. شپې پاڼو د خپرولو لاس پورې کړ. البته په یو شمېر هغو خپرونو کې. چې لاس په لاس ګرځېدې د سلطنتي کورنۍ په وړاندې توندې هجوې او بد رد لیدل کېدل. چې دغه کار نوره هم د پخواني سیاست دښمنۍ تر ځنګ د سلطنتي کورنۍ یوه بله نه پخلا کېدونکې شخصي، دښمني د روڼ اندو په وړاندې زیاته کړه.

له دې ځخه وروسته نه یواځې دا. چې د دغه ډول آثارو لیکل بلکې د هغو لوستل هم د ملي جنایت په توګه بلل کېدل او لوستونکي یې له کړاو ډک حبس باندې واوښتل. د بېلګې په توګه سعدالدین خان بها د یوه شعر د لوستلو په ګناه درې خلې په کوتکونو ووهل شو او بل خل په اور کې سرې کړل شوې د وسپنې ګولۍ د هغه تخرګو لاندې کېښودل شوې او دیارلس کاله په بند کې وساتل شو. تر څو چې سپین ږیری شو او له پښو ولوید او تر راخوشې کېدو وروسته بیا ډېر ژوندی پاتې نه شو او د سلطنت له کړاوونو ځخه ووت. دغه تبلیغي مبارزې یا په بله وینا سوړ ګوریلایي جنګ خپل یو ځانګړی خصوصیت درلود. هغه داسې، چې دغې مبارزې او دغو مبارزینو کوم ټاکلی منسجم ګوند د ځمکې پر مخ او نه تر ځمکې لاندې درلود او نه یې کوم مرکز معلوم و. چې د مبارزې نقشه جوړه کړي او هر سړي جلا جلا په یوه لاره ولېږي او هر چاته دنده وسپاري. دا ځکه لا پخوا استعماري پراخه جاسوسي دسیسو او سلطنتي توطیو د روشنفکرانو په ذهنونو کې د بدګومانۍ داسې تخم شیندلی و او بیا یې دغه تخم په بېلابېلو تبلیغاتو او وسایلو زرغون او خړوب کړی و. چې نه یواځې دا چې د هغوی بیا راټولول او منسجم کول ناشوني شوي وو. بلکې د دولت د ناوړه انګازو او تبلیغ له امله دوی ټولو یو بل ته د شك په سترګه کتل او آن دا. چې ځیني وخت به یې یو بل ته د دښمن په توګه کتل د دغه شیطانت او جاسوسۍ په پایله کې دښمن ډېره تجربه او مهارتونه ترلاسه کړي وو. چې افغاني ساده زړه لرونکي، صادق او سربښندونکي ځوانان یو پر بل بې باوره شوي وو او یو بل سره له نږدې کېدو ځخه یې ډډه کوله او یو بل به یې سلطنت پورې په شك سره تړلی ګڼل. نو عملاً د روڼ اندو مبارزې یوه فردي بڼه لرله، خو په هغه ډېره اوچته بڼه کې یې د یوې کوچنۍ کړۍ بڼه لرله. چې غړي یې له څو تنو ځخه زیات نه وو، خو بیا هم د دوی ټولو تګلوري په یوه لوري و. ځیني وخت به یې ځینو لیدل. چې په هغه چا به چې دوی شکمن وو او هغه به یې سلطنت پورې تړلی باله، هغه به تر دوی مخکې زندان ته لوېدلی و یا به هم

Scanned by CamScanner

هېواد ته د چوپړ په لاره کې د دار رسۍ ته رسول شوی و، بیا به یې د خپل شکمن والي ارمان کاوه او پښیمانه به وو.

سره له دې، چې دغه ګډوډي او د روڼ اندو بې باوري یو په بل باندې ددې لامل شوه، چې دوی ونښي کولای، چې د بهرني ښکېلاک او کورنۍ ارتجاع په وړاندې برې ومومي او دوی هم په ډله ییزه توګه ناهیلي او وټکول شول.

خو سلطنت او ښکېلاک یې کلونه کلونه بوخت وساتل او د یوه ګوند پر ځای هر روڼ اندی جلا جلا تر کنترول او څارنې لاندې و، دا ځکه چې په هغه رژیم کې چې د هېواد د روڼ اندو پر مخ باندې د قانوني او څرګندې مبارزې ټول ورونه بند وو او د بخاردیګ ته که کوم سوری نه وي، هغه چوي، یعنې د هېواد ټول روڼ اندي د رژیم د دښمنان ګڼل کېدل او ځکه یې چاودنه یو طبیعي خبره وه.

البته د ښکېلاکګرو په سیاست کې دا ډول کوم سنجش او محاسبه نه وه، هغوی په خپل زور او چلوټو باندې ډېره لګوله. ددغه سیاست د سرتمبګۍ ځانګړتیا داوه، چې په لومړي پړاو کې د خلکو مقاومت او غرور په سپکاوي او دتورې په زور له منځه یوسي او هغوی په قهر سره ضعف او ماتې ته اړ باسي، بیا یې وروسته د ډوډۍ او پیسو په تمه ځانته ورمات کړي او په پای کې یې بیا په یو بل نسل کې له هغوی څخه فرمایشي خلک جوړ کړي، چې د نارینتوب، وطنپالنې او د سربښندنې له روحیاتو څخه تش وي او هر زور او زرو ته بنده او غلام وي.

په هر حال، د افغانستان د روڼ اندو مبارزه د هېواد دننه په قلمي او شفاهي تبلیغاتو پورې تړلې پاتې نه شوه، دوی یو شمېر یې وتوانېدل، چې له افغانستان څخه بهر مبارزو افغانانو سره او په دې ډله کې له پاچا امان الله خان سره اړیکې ټینګې کړې. یو شمېر نورو بیا په هند کې د "افغانستان" په نوم جریده د رژیم په ضد د مبارزې وسیله وګرځوله. دغه جرید د اړ-دوړ پر مهال د مرتضی احمدخان په واسطه، چې په هندوستان کې یو مېشت افغان و په دري ژبه خپره شوه او د هرات په هکله یې د یو شمېر ایراني جریدو د ادعاګانو په وړاندې خبرې وکړې او د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا دفاع یې وکړه، نو ځکه د افغاني روڼ اندو له خوا، چې د هېواد دننه یې کومه خپرونه نشو خپرولای ښه د هر کلي وړ وګرځېده، خو کله چې په هېواد کې اړ-دوړ پای ته ورسېد او د نادرشاه سلطنت اعلان شو، دغې جریدې د خوشباورۍ له امله د سلطنت ننګه وکړه او له ځان څخه یې خوشبیني څرګنده کړه، چې دغه نوی چلند به ددې لامل شو، چې افغاني روڼ اندي ورڅخه کرکه وکړي، دا ځکه چې دوی دلته د ارتجاع او ظلم او تیرې په اور کې سوځېدل، همدا مهال د هېواد ځو تنه ځوانان له هندوستان څخه تیرېدل او په ډیلي کې یې د افغاني جنرل قونسل خواجه هدایت الله خان له خوا له مرتضی احمدخان سره پېژند ګلویي او کتنه وشوه، دوی په جلا جلا ډول اوږدې خبرې سره وکړې. ددغو خبرو پایله دا راووته، چې د افغانستان د مجلې چلند د نادرشاه د سلطنت په وړاندې بدل شي، له همدې نېټې څخه وروسته د نوي سلطنت په ضد مقالې پکې خپرېدې، ځینې وخت به د هېواد له دننه او بهر څخه افغاني ځوانانو دغې مجلې ته

Scanned by CamScanner

هېواد ته د چوپړ په لاره کې د دار رسۍ ته رسول شوی و، بیا به یې د خپل شکمن والي ارمان کاوه او پښېمانه به وو.

سره له دې، چې دغه ګډوډې او د روڼ اندو بې باورې یو په بل باندې ددې لامل شوه، چې دوی ونشي کولای، چې د بهرني ښکېلاك او کورنۍ ارتجاع په وړاندې برې ومومي او دوی هم په ډله ییزه توګه ناهیلي او وټکول شول.

خو سلطنت او ښکېلاك یې کلونه کلونه بوخت وساتل او د یوه ګوند پر ځای هر روڼ اندی جلا جلا تر کنټرول او څارنې لاندې و، دا ځکه چې په هغه رژیم کې چې د هېواد د روڼ اندو پر مخ باندې د قانوني او ښکاره مبارزې ټول ورونه بند وو او د بخاردیګ ته که کوم سوری نه وي، هغه چوي، یعنې د هېواد ټول روڼ اندي د رژیم دښمنان ګڼل کېدل او ځکه یې چاودنه یو طبیعي خبره وه.

البته د ښکېلاکګرو په سیاست کې دا ډول کوم سنجش او محاسبه نه وه، هغوی په خپل زور او چلوټو باندې ډېره لګوله. ددغه سیاست د سرتمبکۍ ځانګړتیا داوه، چې په لومړي پړاو کې د خلکو مقاومت او غرور په سپکاوي او دتورې په زور له منځه یوسي او هغوی په قهر سره ضعف او ماتې ته اړ باسي، بیا یې وروسته د ډوډۍ او پیسو په تمه ځانته ورمات کړي او په پای کې یې بیا په یو بل نسل کې له هغوی څخه فرمایشي خلك جوړ کړي، چې د نارینتوب، وطنپالنې او د سرښندنې له روحیاتو څخه تش وي او هر زور او زرو ته بنده او غلام وي.

په هر حال، د افغانستان د روڼ اندو مبارزه د هېواد دننه په قلمي او شفاهي تبلیغاتو پورې تړلې پاتې نه شوه، دوی یو شمېر یې وتوانېدل، چې له افغانستان څخه بهر مبارزو افغانانو سره او په دې ډله کې له پاچا امان الله خان سره اړیکې ټینګې کړي. یو شمېر نورو بیا په هند کې د "افغانستان" په نوم جریده د رژیم په ضد د مبارزې وسیله وګرځوله. دغه جرید د اړ-دوړ پر مهال د مرتضی احمد خان په واسطه، چې په هندوستان کې یو مېشت افغان و په دري ژبه خپره شوه او د هرات په هکله یې د یو شمېر ایراني جریدو د ادعاګانو په وړاندې خبرې وکړې او د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا دفاع یې وکړه، نو ځکه د افغاني روڼ اندو له خوا، چې د هېواد دننه یې کومه خپرونه نشو خپرولای ښه د هر کلي وړ وګرځېده، خو کله چې په هېواد کې اړ-دوړ پای ته ورسېد او د نادرشاه سلطنت اعلان شو، دغې جریدې د خوشباورۍ له امله د سلطنت ننګه وکړه او له ځان څخه یې خوشبیني څرګنده کړه، چې دغه نوی چلند یې ددې لامل شو، چې افغاني روڼ اندي ورڅخه کرکه وکړي، دا ځکه چې دوی دلته د ارتجاع او ظلم او تیرې په اور کې سوځېدل، همدا مهال د هېواد څو تنه ځوانان له هندوستان څخه تیرېدل او په ډیلي کې یې د افغاني جنرل قونسل خواجه هدایت الله خان له خوا له مرتضی احمد خان سره پېژند ګلویي او کتنه وشوه، دوی په جلا جلا ډول اوږدې خبرې سره وکړې. ددغو خبرو پایله دا راووته، چې د افغانستان د مجلې چلند د نادرشاه د سلطنت په وړاندې بدل شي، له همدې نېټې څخه وروسته د نوي سلطنت په ضد مقالې پکې خپرېدې، څېنې وخت به د هېواد له دننه او بهر څخه افغاني ځوانانو دغې مجلې ته

مقالې استولې، چې په هغو کې یې یوه د دغه کتاب د لیکوال اوږده مقاله وه، چې د (س.ب) په مستعار نوم سره د ۱۹۳۰م. کال یوې ګڼه کې د:

"سرگذشت عهد گل را از نظیری بشنوید

عندلیب آشفته تر خواند این افسانه را

تر عنوان لاندې خپره شوې وه، په دغه مقاله کې د واکمنې کورنۍ رښتینې څېره· د افغانستان چاپېرل له «وطنپالو څخه او په دربار کې د هندیانو واك، بهرنیو هېوادونو ته د هېواد د پانګې لېږل او د دغه ډول ښکېلاکي او استبدادي رژیم تر سیوري لاندې د افغانستان د راتلونکي په هکله مسایل تشریح شوي وو. البته دغه ډول خپروني د افغانستان د سلطنت او انګرېزي ښکېلاك په ګټه نه وې، نو ځکه د کابل د بهرنیو چارو د وزارت له وړاندیز سره سم، دغه جریده د هند د انګلیسي حکومت له خوا بنده شوه او مرتضی احمدخان زندان ته واچول شو. د انګلیسانو حکومت د خپل ځانګړي چلند له مخې، مرتضی احمدخان خوشې کول د افغانستان د حکومت په موافقې پورې وتړل، نو ځکه مرتضی احمد اړ شو، چې په خپله په لیکنې توګه له نادرشاه څخه بخښنه وغواړي او د افغانستان له کورنیو پېښو څخه د خپلې بې خبرۍ عذر وړاندې کړي، مرتضی همداسې یو لیك د نادرشاه په نامه راولېږه او په هغه کې یې د ځان د خوشې کېدو په هکله د هغه موافقه وغوښتله. نادرشاه هم دغه لیك د خپل سرمنشي په لاس د کابل ادبي ټولنې ته راواستاوه تر څو یې افغاني لیکوال ولولي او په دې باندې وپوهېږي، چې د سلطنت د مخالفینو حالت نه یوازې دا چې د هېواد دننه بلکې په بهر کې هم دا ډول دی، خو مخکې تر دې چې انګلیس مرتضی او نوموړې جریده توقیف کړي، د افغانستان حکومت په خپله په دې برخه کې یو مهارت او چالاکي ښودلې وه او هغه داسې وه:

د کابل د ادبي ټولنې مدیر (شهزاده احمدعلي خان دراني لاهوري) ته دنده وسپارل شوه، چې په لاهور کې یو څوك وپیږي او د نوکر په توګه یې د مرتضی احمد په خدمت کې وګوماري. دغه سړی ته دنده وسپارل شوه، چې په ډېر لږ معاش سره مرتضی ته ډېر ښه صادقانه چوپړ وکړي، تر څو د هغه د باور وړ وګرځي، دوهمه دنده یې دا ورته وټاکله، چې خان په دې باندې پوه کړي، چې هغه ټول لیکونه چې د هندوستان له دننه او بهر څخه مرتضی ته رسېږي، هغه په ښه کړي، چې په کوم ځای کې اېښودل کېږي او د دغه مستخدم وروستۍ دنده دا وه، چې له هغه ځایه دغه ډول لیکونه غلا کړي او د یو دوه زره کالدارو په بیه یې په شهزاده باندې وپلوري. دا کارونه په ډېره آسانۍ سره ترسره شول او لکه څرنګه، چې به شهزاده کیسه کوله د مرتضی په نوم د لیکونو یو ډك بکس ارګ ته راورسېد او په شاهي ارګ کې پرانیستل شو او ټول لیکونه ولوستل شول. احمدعلي دراني به ویل، چې افغانستان دولت نور ټول هغه لیکونه او دهغو لیکوال وپېژندل، چې د افغانستان جریدې ته یې مخالفانه لیکونه لېږلي وو او د پاکتونو او د لیك له مخې یې په ښه کړل، خو هغو کسانو، چې تایپ شوې مقالې او بې لاسلیك څخه یې لېږلې وې هغوی ونه پېژندل شول.

Scanned by CamScanner

د جاسوسانو په مرسته د هېواد دننه او بهر د انګلیسي هند د جاسوسي شبکو او د سلطنت د خپلو پراخه جاسوسي شبکو او په هغوی باندې بریالي و.

خپلو سیاسي مخالفینو په اوضاع واکمن او په هغوی باندې بریالي و.
په کابل کې د سید عبدالله شاه جي کور د جاسوسۍ په لوی مرکز بدل شوی و، آن دا چې د عبدالرحمن خان زوی سردار محمدعمرخان اړ کړل شوی و، چې هره ورځ باید د شاه جي مجلس ته راشي او د هرې ورځې اخبار ورته واوروي. سلطنت د افغانستان د ټولو وطنپالو روڼ اندو یو لست چمتو کړی و او ټول یې تر کلکې څارنې لاندې نیولي وو. او له هر یوه سره یې په یوه ځانګړي ډول چلند کاوه. یو به یې په لرې کولو او یو نیم به یې په تطمیع کولو سره ګوابنلو. بل به یې په بندي کولو او بل به یې له دندې په لرې کولو او یو نیم به یې په تطمیع کولو سره غلي کول. هېڅ داسې یو څوك، کومه غونډه او ځای نه و، چې د دولت د سیده جاسوسۍ تر څارنې لاندې نه وي. خبره تر دې برید پورې رسېدلې وه، چې جاسوس به ځان د پام وړ سړي، خلکو یا غونډې ته په سیده یا ناسیده توګه ور پېژاند تر څو یې بنه هر کلی وشي. دا یواځې نه، بلکې دولت د یو شمېر ناپېژندل شویو روڼ اندو د پېژندنې لپاره یوه انتقادي جریده د (حقیقت) په نوم د شپې پاڼې په بڼه په خپل ضد خپروله، تر څو مخالفین په هغې باندې راټول کړي او ویې پېژني. ددې کار لپاره د دولت له خوا یو ډېر ځیرك ظریف او جذاب ځوان ټاکل شوی و، چې نوم یې نیك محمد کابلی و او په مرزا نیکو سره به یادېده. هغه څو کاله مخکې په کندهار کې د امانیه دولت په ضد کار کاوه، چې لاندیني کېسان ورسره ملګري وو: مرزا عبدالعلي خان، مرزا عبدالله خان، حاجي ولي محمدخان مخلص او میرعلي احمدخان او کبدای شي، ځیني نور به هم ورسره وو. دوی د کورنیو چارو وزیر د کندهار د تنظیمیه رییس عبدالعزیز خان دربار ایسار کړی و او په ټولو چارو یې څارنه کولای شوه. زه ددې کتاب لیکوال په خپله کله، چې په ۱۹۲۴م. کال د ماسکو په وستوفکه کې د امانیه دولت د شرکت له نمایندګۍ څخه د هرات په لاره کندهار ته راورسېدم، کله چې له کندهار څخه د هند خوا ته تلم، مرزا نیکو پرته له کومې څرګندې اړتیا څخه تر افغاني سرحد (قلعه جدید) پورې بدرګه کړم. دا کومه نوې خبره نه وه، خو په هغه سبا چې کله د ډیورنډ له کرښې څخه اوښتم، نو ګورم چې نیکو په ډېره اسانۍ او بې له کومې ستونزې لکه خپل کور کې. چې ګرځي، په چمن کې تر افغاني تجارتي وکالتخانې پورې له ما سره راغی افغاني وکیل التجار غلام فاروق خان کندهاری، چې خلکو ورته کاکو وایه و.

په لاهور کې هم کټ مټ همداسې پېښې سره مخامخ شوم، هلته همدا چې له ریل ګاډي څخه راکوز شوم، د محمدعلي په نوم یوه ځوان سره مخامخ شوم، چې پوره دوه شپې او دوه ورځې راسره و او زه یې یواځې پرې نښودم، تر څو چې پېښور ته روان شوم. نوموړی هماغه څوك و، چې وروسته په کابل کې تاریخ لیکوال او د پروفېسر محمدعلي خان په نوم وپېژندل شو، چې د نادرشاه د پاچاهۍ په پیل کې یې ډېر زیات فعالیت کاوه. دده په فعالیتونو کې یو هم دا و، چې د کابل باغ عمومي کې به یې د ځوانانو غونډې جوړولې او هلته به یې ویناوې کولې او هر یو به یې خبرو او وینا کولو ته هڅول، البته د هرچا وینا به یادداشت کېده اووروسته به یې د هغې ځواب وایه. په دغو وینا کوونکو کې یو هم، نوی زلمکی میرحبیب الله و. چې د تلګراف په څانګه کې یې زده کړې کړې وې، چې د یوې ډېرې صنیمې او

رښتيني وينا له کبله ډېر ژر زندان ته واچول شو او څوارلس کاله په بند کې پاتې شو. په کومه ورځ چې هغه د امسا په مرسته له زندان څخه راووت، نور نو نه پېژندل کېده، دا ځکه چې هغه په يوه بوډا او له فکر څخه غورځېدلي سړي باندې بدل شوی و.

د نيکو له دې ټولو هلو-ځلو سره سره د کابل ځوانان د حقيقت له ورځپاڼې سره يو ځای نه شول، بلکې په خپله دوی د «حقيقت- حقيقت» په نوم يو بله خپرونه راوکښله او سلطنت يې ښه پکې وټکاوه، خو مرزا نيکو په پای کې وتوانېد، چې د حقيقت-حقيقت يو شمېر ليکوالو ته دوکه ورکړي او هغوی وپېژني او د دولت زندی ته اچوونکو ته يې وسپاري، لکه ميرعزيزخان شهيد او ميرمسجدي خان شهيد او نور... نور نو سلطنت ليونی شوی و او هرې خوا ته يې خوله اچوله. د شاهي ارګ- د کابل کوتوال، ده مزنګ، موتي سرای او بادام سرای زندانونه ټول له سياسي بنديانو څخه ډک شوي وو «بادام سرای زندان يوازې د چرخي د کورنۍ د ښځو او ماشومانو لپاره و». هغو ځوانانو، چې حقوق يې ورڅخه اخيستل شوي وو او له ښوونځيو څخه شړل شوي ماشومان د کابل په کوڅو کې سرګردان، ګرځېدل او غوسه ناکې کورنۍ د تيلي ډيوو رڼا ته په کابل کې په ورېي نس ژوند تيراوه او شپې يې سبا کولې. ښځو به يوه ټوټه ډوډۍ په سر کېښوده او د زندان د تمبو تر شا به ولاړې وې ژړا او انګولا به يې کوله. چې خپلو نارينه بنديانو ته ډوډۍ ورکړي. تر دې مهال پورې لسګونه روڼ اندي ووژل شول او يا هم په خپله په زندانونو کې مړه شول، څو تنه نور د زندان له بدې ورځې لېونيان شول. لکه سيد احمدخان نايب سالار او کنډکمشر اعظم خان ميداني، چې په ارګ کې مړه شول او محمدکبيرخان اکتر او محمديوسف خان حقيقي چې په سرای موتي کې مړه شول او داسې نور... وژل شوي کسان دا دي:

جنرال پينن بيك خان، د توپچي غونډ مشر دوست محمدخان، کنډکمشر احمدشاه خان، د شاهي فرقې کنډکمشر سيداحمدخان، جنرال غلام جيلاني خان څرخي، جنرال شيرمحمدخان څرخي، امرالدين خان، عبداللطيف خان، محمدنعيم خان، عبدالرحمن لودي، باروت جوړونکي، فيض محمد، تاج محمد خان يغماني، غلام نبي خان څرخي، غلام رباني خان څرخي، غلام مصطفی خان څرخي، نامتو محمدولي خان مرزا محمدمهدي خان قزلباش، فقير احمدخان، غونډ مشر علي اکبرخان، خواجه هدايت الله خان، مولاداد هزاره، محمدعظيم خان منشي زاده، دوران خان او نور...

دوی پسې نور لاندې کسان ووژل شول: د نجات د ښوونځي زده کوونکی زمان، د نجات د ښوونځي مرستيال محمدايوب خان، عبداللطيف خان څرخي، قربان هزاره، د ښوونځي زده کوونکی يو محمودخان او ورپسې بيا بل محمود، د بريښنا د شرکت کاتب محمدزمان خان، ميرعزيزخان، ميرمسجدي خان، مؤلف او ليکوال عبدالحکيم خان،مرزا محمدخان، اميرمحمدخان، له ترکيې څخه فارغ التحصيل مير عبدالعزيز خان او داسې نور. کېدای شي کوم ليکوال به يو وخت دوژل شويو ټول ليکلړ بشپړ او د نادرشاه د دوران د سياسي وژل شويو زندانيانو ټول نومونه به خپاره کړي. زه ليکوال خواشينی يم، چې په خپله ددې کار فرصت نه لرم.

Scanned by CamScanner

چې د نادرشاه په زندان کې یې نړۍ سره مخه ښه کړې او زما په یادښتونو کې یې نوموړنښنه هغوی، هغوی دا دي: د محمد ولي خان خوریی محمد سعید خان ، نایب سالار جانبازخان ځرخي، د ناظرمحمدصفرخان زوی محمداسمعیل، د شجاع الدوله خان ورور محمدعزیز خان غوربندي، د فرانسې فارغ التحصیل دین محمد سید غلام حیدرخان کونړی، محمدبشیر خان منشي زاده، مرزا عبدالله خان منصوري، محمدابراهیم قاریزاده، د برېښنا د شرکت رییس اعظم خواجه، خواجه میرعلم خان مرزا شیرین خان ځرخي، یحیی خان ځرخي (۱۴ کلن ماشوم) نامتو مؤلف او لیکوال او ژورنالست محی الدین انیس، د محمد ولي خان خوریی مختار وزیر محمدامین خان، د برېښنا په څانګې د زده کړې خاوند، د تیلیفون د څانګې متخصص محمدکریم خان منشي زاده، عبدالفتاح خان تلګرامي، مسجدي خان هزاره او نور...

خو د ټولو سیاسي بندیانو لست په واک کې نشته، په هغه زندان کې چې زه وم، په هغه کې اویا تنه سیاسي بندیان وو. ویل کېدل، چې ګڼ شمېر سیاسي بندیان د ارګ په زندان کې دي، خو د دهمزنګ او کابل د کوتوالي په زندان کې زیات شمېر بندیان دي، کله چې د نادرخان د دورې د سیاسي بندیانو او بندي خانې څخه یادونه کېږي، نو لوستونکي باید هغه د نورې نړۍ او یا د ختیځ د نورو هېوادونو د سیاسي بندیانو او زندانونو په شان ونه ګڼي، دلته به د نادرشاه د کورنۍ د واکمنۍ د دوران د افغانستان د سیاسي زندانونو یو کوچنی انځور چې په خپله ما لیکوال لیدلی دی، مخې ته کېږدو:

# سیاسي زندانونه

# د موتي سرای زندان

د ۱۹۳۳م. کال په اوړي کې لا زه د کابل د ادبي ټولنې غړی وم او د افغانستان په اړه مې تاریخي رسالې او مقالې لیکلې، دا ځکه چې د افغانستان کوم عمومي تاریخ نه و لیکل شوی، کوم څه چې لیکل شوي هم و، هغه د میرویس خان هوتکي د غورځنګ له پیل څخه او د ابدالیانو د دولت له وخته را دې خوا دي او بس نور څه نه وو لیکل شوي. البته ما په پیل کې او د لږ امکاناتو په لرلو سره تر ډېره بریده پورې د هېواد د عمومي تاریخ یو څه مفردات د کابل کالنۍ په مجله کې په بېلا بېلو خورو-ورو رسالو او مقالو کې (لکه افغانستان و نگاهی به تاریخ آن، افغان در هندوستان او تاریخچه مختصر افغانستان) خپاره کړل. سره له دې، چې دغو لیکنو به د عصري تاریخ د سرچینو د نه لرلو له امله، په تاریخ لیکنه کې د پوره تجربې نه لرلو له امله او د نوي والي له امله یو څه نیمګړتیاوې لرلې ، خو لویه نیمګړتیا دا وه، چې یوه سیاسي توره فضا حاکمه وه او د دغې اداري او سیاسي تورې فضا له امله لیکوال نشو کولای، چې په هر هغه څه چې پوهېږي او غواړي یې، چې هغه آزادانه د کاغذ پر مخ ولیکي، نه یې شو کولای دا ځکه چې سلطنت د لیکوالو د فکر او عمل په وړاندې د ورځې د سیاست او نورو نومونو له مخې خنډونه جوړ کړي وو. آن دا ، چې زه اړ شوم چې د خو دېرش کلونو په ترڅ کې خپلې نورې لیکنې هم به

نیمګړې بڼه عرضه کړم لکه: افغانستان بیک نظر، عرب و اسلام در افغانستان-احمدشاه ابدالي، ادبیات در عهد محمدزایي، امرای محلی افغانستان او نور... برسېره پر دې زما له موافقې پرته د حکومت ادارو زما لیکنې بدلولې او هغو کې به یې تعدیل راوست. زما هغه یوائیني اثر، چې بې لاسوهنې پاتې و، هغه د افغانستان در مسیر تاریخ لومړی ټوک و، چې دولت هغه توقیف کړ، نو ځکه د هغه د مطالبو د تحریف امکان نه و، خو سره له دې هم ما دغه نیمګړې او ناښپړې لیکنې هم د هغه مهال له اداري او سیاسي شرایطو سره سمې یو مخ په وړاندې ګام باله. دا ځکه، چې د افغانستان د روڼ اندو په وړاندې یې اقلاً د افغانستان د اوږده او لرغوني تاریخ یو څه مواد او مفردات مخ ته کېښودل او دوی یې د تاریخي تګلورې په پېژندلو سره مخ په وړاندې بیول.

په هر حال، وروسته تر هغه، چې د انګرېزانو په سفارت باندې محمدعظیم خان منشي زاده برید وکړ، د پنج شنبې ورځ وه، چې د ۱۳۱۲ل. کال د وږي ۲۲مه (د ۱۹۳۳م. کال) وه، چې وروسته تر غرمې د ادبي ټولنې د دفتر ور پرانیستل شو او دوه تنه پولیسان، چې تومانچې ورسره وې د ادبي ټولنې د فتر ته راننوتل او زه یې ونیولم. دوی د کابل د کوتوالي د قومندان طره باز په لاسلیک یو لیک راوړی و، چې په هغه کې لیکلي وو:

"یو ځل قومنداني ته راشئ! یو څه پوښتنې درځخه کېږي، خواب راکړئ بیا بېرته ولاړ شئ." پولیسو زه د لاهوري دروازې خوا ته بوتلم، کله چې کوتوالي ته ورننږدې شولو، پولیس اخطار راکړ، چې باید د لاهوري دروازې په لوري روان شم، ځکه چې هلته د کوتوالي قومندان ما او یو شمېر نورو کسانو ته سترګې په لاره دي، ماداسې وانګېرله، چې ما به د حکومت له دود سره سم له لاهوري دروازې څخه، مخامخ د بالاحصار وزنځای ته بیایي. دغه بربېنا ډوله فکر څو شیبې راسره و، کله چې پولیس زما په اوږه لاس کېښود او راته ویې ویل، چې دغه ځای ته ننوځه، نو چې کتل مې دا د سراجي د بازار منځنۍ برخه او د موتي سرای په نوم یو ځای و. دغه سرای یو غولی درلود، چې مستطیل بڼه یې لرله، څلورو خواوو ته یې په دوو پوړونو کې څلوېښت کوټې وې او یوه بیت الخلا یې هم لرله، چې هرې یوې دغو کوچنیو کوټو یوه یوه دروازه لرله او ددې ټولو لپاره یوه برنده وه، چې د دهلیز په توګه ورڅخه کار اخیستل کېده. دغه زاړه او پخواني سرای د وخت په تېرېدو سره د خاورو د اوسېدلو د ځای بڼه غوره کړې وه. زه یې په یوه کوټه کې واچولم او ور یې راپسې کولپ کړ، د پولیسو افسرانو درې څه وپلټلم، له ما څخه یې ساعت (ګړۍ)، قلم او کاغذ واخیستل. د سرای غولی او برنډې له وسله والو پولیسو څخه ډک وو. پولیسو سره متروکې هم وې، تر مازیګر پورې دوی محکومین راوستل او د هر محکوم د دروازې شاته به یو پولیس ولاړ و." دې پسې وروسته د پولیسو او د پولیسو د مامورینو یوه بلې نوې ډله راغله، چې په سر کې یې د کوتوالي قومندان طره باز خان او د افغانستان د ضبط احوالات رییس مرزا شاه محمود خان وو. په دغې ډلې کې یوه تن په لوړ غږ سره بندیانو ته د دین او دولت د خاینانو خطاب وکړ، له دې امله چې هوا توده وه، نو رییس او قومندان په بام باندې کښېناستل او د غولي پر مخ یې یو جوال کېښود، چې له زنځیر او زولنو ډک و. یو پنځ یې راوست او یو نیم یې زولانه کړل. البته

بندیان له دریشي ګانو سره راوستل شوي وو او زولانه به په پطلون باندې اچول کېده. عبدالسلام پښې ماته ورو وویل کاشکې مو پطلون نه وای. ستاسې لپاره د هغه بدلول ستونزمن کار دی. کوټو بربښنا نه لرله او تیاره وې، دا ځکه، چې پخوا دا یو نهاري لومړنی ښوونځی و. خو اوس یې په محبس باندې بدل کړی و. د انګړ په منځ کې یو اوچت ځلی و. چې په هغه باندې د بریښنا یو ګروپ لګول شوی و. دا مهال یې معبود خان راوست. هغه په جرمني کې زده کړې کړې وې هغه یې مخامخ د بریښنا د ګروپ لاندې بوت، هلته یې زولانه کړ، هغه چې دغه د لرګي پایه ولیدله. فکر یې وکړ. چې د غرغرې دار دی، نو ډېر ژر مخ په قبله ودرېد او دعا لوستل یې پیل کړل. سپاهي ورته وویل. چې د غرغرې وخت دې نه دی. هغه یو ځل بیا ددعا لپاره لاسونه اوچت کړل، چې البته دا یې د شکرانې دعا وه: مابسام رییس او د کوټوالي قومندان په ټوله برنډه وګرځېدل او هره کوټه یې له بهر څخه وکتله. وروسته بیا قومندان هغو دوو ټولیو عسکرو ته. چې د شاهي ارګ او کوټوالي له ژاندارمو څخه یې ددغه زندان د ساتنې لپاره راوستي وو، امر وکړ: "د بندیانو ډېره کلکه ساتنه وکړئ. دوی کوټه قلفي دي. هېڅ سره او یو بل سره د خبرو کولو حق نه لري، که چېرې دوی له چا سره خبرې وکړي. په برچه باندې یې ووهئ" د زندان مامور، د کوټوالي ضابط نثار احمدخان لوګري او د ارګ ټولي مشر امان الله خان هراتي تیارسئ شول او ویې ویل: "اطاعت کېږي ښاغلي ولاړل او عسکر په پامونو. دروازو او د زندان په انګړ او د درواز شاته ویشل شول. دغه ټولي پرله پسې بدلېدل، تر څو په زندان کې ډېر وخت تیر نه کړي او بندیانو سره خوې او اشنایي ونه مومي. یو ځل یې د موتي سرای د کوټوالي د ټولي په نوم یو شمېر عسکر د ډېورنډ پورې غاړې څخه راوستل، چې پاخه او آزمایل شوي ښکاره کېدل. د انګرېزانو پوځ د امیرعبدالرحمن خان د دورې له فراریانو او د امیرعبدالرحمن خان د قهر وړ وګرځېدل او ددغو خلکو له اولادونو څخه یې یو لښکر جوړ کړی و، چې یو مهال یې بیا د کوټې له پوځ څخه د هغوی دوه کنډکونه ظاهراً رخصت کړل، خو په اصل کې یې هغوی کابل ته را استولي وو. نادرشاه دوی ټول د کابل په ټولو قطعاتو کې تقسیم کړل، چې په سیاسي او نظامي موخه یې ورڅخه کار واخیست. دغه نوي راغلي ډله هم هماغه دوه کنډکونو پورې اړه لرله، چې د موتي سرای زندان ته یې راوستل. په هر حال، بندیان به په خپلو کوټو کې په خاورو باندې کېنېناستل، دا ځکه چې لا تر دې مهال پورې د دوی له کورونو څخه دوی ته ټغرونه او بسترې نه وې راوړل شوې. په دغو بندیانو کې چې شمېر یې څو دېرش تنه و د هرې ډلې روڼ اندي او روښانه خلک و لکه: لیکوال. نظامي صاحب منصبان، کاتبان. د تلګراف کار کوونکي، ژباړونکي، د بهرنیو چارو وزارت مامورین، ښوونکي. هوټل لرونکي، هندي مهاجر او نور تر دوو میاشتو پورې بله ډله بندیان راوستل شول، چې شمېر یې دېرش تنه وو په هغوی کې ښوونکي، مامورین. د بهرنیو چارو د وزارت کاتبان او د نورو بېلابېلو څانګو مامورین وو. نادرشاه پتیبلې وه. چې د موتي سرای ټول بندیان اعدام کړي، خو د یوه ځوان د تومانچې ډز هغه تر نورو مخکې له منځه یووړ. ځینې وخت به یې ځینې کسان نوي راوستل او وروسته تر څه مودې به یې بل ځای ته وړل. په بندیانو باندې روحي فشار د انګرېزانو په سلیقه تطبیق کېده. یعنې پړاو په پړاو روحي فشار ورباندې زیاتېده. دا ځکه که چېرې

فشار که څه هم ډېر درونډ وي. خو په يوه اندازه پرېښودل شي. بندي وروسته تر څه مودې ورسره عادت کېږي او ډېر کړاو وربانډې نه تيرېږي. له همدې امله يې په لومړيو ورځو کې يواځې په کوټه قلفي يعنې مجرد حبس بانډې بسنه وکړه. وروسته يې بيا په هغې ډوډۍ بانډې بنديز ولګاوه. چې بنديانو ته به د دوی له کورونو څخه راوړل کېده. ورپسې يې بيا د سلماني راتګ او د وېښتانو او ږيرې جوړول منع کړل او بيا يې د کتابونو مطالعه کول بند کړل. ژمی او روژه پرله پسې راورسېدل. د بنديانو خوراك يواځې وچه ډوډۍ وه، چې هغه هم خامه او له شګو ډکه وه. دغه ډوډۍ به ده مزنګ کې په عمومي محبس کې پخېدله.مونږ اړ وو، چې دغه ډوډۍ يواځې له اوبو سره وخورو. دا ځکه چې آن د مالګې او مرچو د راوړلو اجازه هم نه وه. البته دنادرشاه له وژل کېدو څخه وروسته اجازه ورکړل شوه، چې د موتي سرای هر بندي به په اونۍ کې پينځه روپۍ نغدي له خپلو کورونو څخه راغواړي او خپل خوراك به ځانته په خپله کوټه کې پخوي. په کوټو کې يې د برېښنا څراغونه ولګول. چې بايد تر سبا پورې روښانه وي. د ټولې شپې په ترڅ کې هرو دوو ساعتونو کې پهره داران بدلېدل. نوي پېره دار به د کوټې بندي وينښ کړ او کوت به يې، چې څوك دي؟ په دې توګه آرام خوب امکان نه درلود، په ډېره سړه يخنۍ کې بندي ته ددې اجازه نه وه، چې د سکرو نغرۍ په برنډه کې ولګوي. بلکې بايد نغرۍ په هماغه کوټه کې بل شوی وای. له دې امله چې په دغه سرای کې دوه ټولي عسکر هم و، خو بيت الخلاء يواځې يو وه، يوه ډېر نيکمرغه بندي ته هم ايله په يوه شپه ورځ کې دوه ځله د بيت الخلاء وار رسيد، اسهال او پيچ شوي بنديان اړ ول، چې په خپله کوټه کې او آن که هغه کوټه به مشترکه هم وه، معذرت رفع کړي، هر هغه بندي ته به چې د بيت الخلاء وار ورسېد. بيا به هم د بيت الخلاء دننه دروازه کې پهره ساتونکی عسکر وربانډې ولاړ و. کوم څوك به که په دې شرايطو کې ناروغ شول. طبيب او درمل يې نه لرل. بنديانو غوښتل، چې څه شېبه په برنډه کې لمر ته کېني، خو ددې اجازه ورته نه ورکول کېده. په دغه ډول شرايطو کې محمد کبير خان منشي زاده د پغمان د سينما محبوب او نامتو اکتور او مرزا محمديوسف خان حقيقي د روغتيا د رياست کاتب تر درانه عصبي او روحي فشار لاندې راغلل، محمدکريم خان منشي زاده چې ناروغ شوی و. هيله او غوښتنه يې وکړه، چې دده ورور محمدکبير خان منشي زاده يوې بلې کوټې کې مېشت کړي، سپاهيانو ددې کار واك نه درلود. په يوه ماښام، چې د کوټوالي قومندان طره بازخان د زندان د کتلو لپاره راغی، ناروغ محمدکريم خان خپله هيله يو ځل بيا تکرار کړه، خو قومندان له خپلو متروکو لرونکو سپاهيانو سره په برنډه کې ودرېد او په ډېر لوړ غږ سره يې، چې ټول بنديان يې واوري چيغې کړې: "د هغې کورنۍ سزا، چې د بريتانيا پر سفارت يې بريد کړی، همدا ده. ايا تاسې نه پوهېږئ، چې افغانستان لکه د يوې چنچنې په شان او د بريتانيا دولت لکه شهباز دی؟" ناروغ محمدکريم خان منشي زاده ورور محمد عظيم منشي زاده د انګليس د سفير د ترور کولو لپاره سفارت ته ننوتي و، نو ځکه يې ورونه هريو محمدکبير خان، محمدکريم خان، محمدبشيرخان او محمدمنيرخان، وراره يې عبدالله خان او اوښی يې د استقلال د ليسې مرستيال محمدحسين خان ټول زندان ته واچول شول.محمدکريم خان په سويډن کې د تيليفون په ځانګه کې زده کړې کړې وې

طره باز د خپلو دغو خبرو په ترځ کې د صدراعظم محمدهاشم خان اووروسته بیا په محبس کې مړ شو). طره باز د خپلو دغو خبرو په ترځ کې یعني خپله یوه اوږه به یې ټيټه کړه او لاسونه خوځول، یعني خپله یوه اوږه به یې ټيټه کړه په شان کټ مټ خوځید او هماغسې یې اوږې او لاسونه خوځول. په دې وخت کې د محبس مامور خبرې به یې ژوولې کولې او لاسونه به یې ډېر اخوا دېخوا غورځول. په دې وخت کې د محبس مامور عرض وکړ: عبدالعزیز کندهاري هم عرض کړی دی، له دې امله چې ډېر بوډا دی او زهیر شوی، غواړي چې یو بل بندي هم ورسره کوټه کې د پره شي. قومندان وپوښتل: کوم عبدالعزیز؟ (په دغه محبس کې یو بل کابلی سوداګر عبدالعزیز هم و) مامور ځواب ورکړ: عبدالعزیز د بهرنیو چارو د وزارت د مطبوعاتو مدیر. قومندان امر وکړ، چې هغه دروند او پټمن بوډا له کوټې راوباسي او برنډې ته یې راوست. بیا یې لاسونه په سپاهیانو ونیول او په وهلو یې مخ وپړساوه. قومندان ورته مخ کړ او ورته ویې ویل: پدرلعنته! اوس ه خدمتګار غواړې؟

دغه طره باز قومندان څوک و؟ دغه سړی پخوا د امیر حبیب الله خان په دوره کې په نظامي مخابراتو کې د (آیینه برقي) په نوم د میاشتې په ۲۵ کابلی روپیو معاش سره مقرر و، چې ډېر لږ سواد یې درلود. په امانیه دوره کې کنډکمشر او بیا د ډکې سرحد دار شو. په همدې مهال د انګرېزانو له سرحددارانو او د انګرېزانو له سیاست سره آشنا شو. د امان الله خان په وړاندې د اړ-دوړ پر مهال د نادرشاه په پلوي چوپړ ته ننوت، چې اوس د کوټوالي قومندان او د هېواد د ځوانانو جلاد ورڅخه جوړ شوی و. دغه ظالم او بې زړه سوي سړی د دغه کتاب تر لیکلو پورې ژوندی او د پلازمینې یو میلیونر دی، دغه قومندان به په میاشت کې یو دوه ځله د موتي سرای زندان ته د ماښام پر مهال راته، دده له راتګ څخه مخکې به د زندان مامور نثار احمد سیاسي بندیانو ته امر کاوه، چې تر څو هر یو په خپله د خپلې کوټې مخه برنډه جارو کړي. دغه طره باز به له قمچین (متروکې) لرونکو پولیسو سره وګرځېد. پرته له دې، چې خبرې وکړي په برنډو باندې به را دوره شو او بېرته به ولاړ. یوه ورځ محمدیوسف خان حقیقي خپله کوټه له دننه څخه وتړله او له خبرو کولو او ډوډۍ خوړلو څخه یې ډډه وکړه، قومندان د شپې راغی امر یې وکړ، چې دروازه ماته کړي، حقیقي یې له ببرې ږېرې او جږو ویښتانو سره راوکیښ او د غولي پر مخ یې یې وغورځاوه. پرته له دې، چې د هغه ددې کار کومه پوښتنه وکړي امر یې وکړ، چې په څلورو تنو یې لاسونه او پښې ونیسي او په هوا یې کړي، دوو نورو په متروکو باندې وهل پیل کړل، تر څو چې ټول ستړي شول، حقیقي سوڼ هم ونه کړ، کله چې وهل خلاص شول، حقیقي په اوچت غږ وویل: هغه حکومت چې د ښو او بدو توپیر نه شي کولای، غول خوري چې د یوه هېواد چارې ترلاسه کوي. لاسونه یې وربانديې وتړل او په کوټه کې یې واچاوه. په یوه بله ورځ باندې محمدابراهیم قاري زاده چې د شلو کلو ځوان او د استقلال د لیسې زده کوونکی و، په څپېړو ووهل شو. په هغه باندې دا تور لګول شوی و، چې ګواکې له میمنې څخه کابل ته د صدراعظم محمدهاشم خان د بېرته راتګ پر مهال یې غوښتل، چې د بغلان مرزا لاره کې تیږې واچوي.

## د دهمزنګ زندان

دغه ځوان (محمدابراهیم قاریزاده) چې سپرو سرتېرو هغه په پلي توګه له بغلان څخه تر کابل پورې راوستی و، په موټي سرای کې د (بندیخانې په تبه) اخته شو او د دهمزنګ د بندیانو په روغتون کې ومړ، دا په داسې حال کې، چې مور او خور یې دوه اونۍ له سهاره تر ماښام پورې ورېې ترې د ناروغ د بستر شا و خوا ورته ګرځېدې او ژړل به یې او ماښام به پولیسو کورته شړلې. زه هم په همدې ناروغۍ اخته او له هغه سره په یوه کوټه کې په روغتون کې بستر وم. معالج ډاکتر یو هندي (چې په اصل کې به کوم کمپوډر یا بیطار و) چې زه د یوې بیحالۍ له امله د هغه د درملو له خوړلو معذور وګڼل شوم، نو ځکه ژوندی پاتې شوم، زمونږ د همدغې کوټې بل ناروغ غلام محی الدین انیس و، چې د کابل دغه نامتو لیکوال د کوتوالي په زندان کې د سرې په سل ناروغۍ اخته شوی و، چې بیا د ده مزنګ روغتون ته راوړل شو او وروسته بیا هغه هم له ژوند څخه سترګې پټې کړې، زمونږ د روغتون نرس هغه بندیان وو، چې زولنې یې په پښو کې پرتې وې او د نرس نوم یې هم نه و اورېدلی. په دوی کې د یوه نوم ملا جوره و، چې په یو اځیتوب کې به یې له ما سره خبرې کولې، هغه یوه ورځ په دهمزنګ کې یو دوه پوړیز ګرد کور، چې د دهمزنګ په وربوې کې و او برنډه یې په پوزیانو ایساره شوې وه راوښود او راته ویې ویل، چې عبدالحکیم خان رستاقي هلته بندي و. دغه برنډه قومندان په پوزي وپوښله، چې هغه بهر ونه ګوري، هغه به یې وږې ساته او ډوډۍ به یې له یوې ورځې بلې ته ورته ځنډوله. تر څو چې یوه شپه د ضبط احوالات رییس او د کوتوالي قومندان د استنطاق لپاره ورغلل. خو په هغه سبا یې دهغه مړی چې په رسۍ باندې په چت پورې غرغره شوی و له هغه ځایه راوویست او د محبس په هدیره کې یې خښ کړ، کله چې ملا جوره دغه کیسه کوله زمونږ د ګاونډي کوټې څخه د دعا غږ واورېدل شو. ملا جوره وویل چې دا د عبدالحکیم قریشي رستناقي په نوم د یوه ناروغ بندي غږ دی. چې ستا تر څنګ کوټه کې قلفي شوی دی، د هغه ډوډۍ هم له نن څخه سبا ته ځنډوي، ویرېږم چې هغه هم لکه د عبدالحکیم رستاقي په شان ونه وژني (خو هغه ژندی پاتې شو او څو کاله وروسته بیا خوشې شو)

د دهمزنګ د زندان مدیر ښاغلی سید کمال بهاو، چې په لندن کې یې د پولیسو په څانګه کې زده کړه کړې وه او اوس یې یو زر او څو تنه افغان بندیان تر کړولو لاندې نیولي وو. د هغه مشر ورور سرفرازخان بهاو، چې په ۱۹۲۴م. کال کې یې د امانیه دولت په ضد په اړ-دوړ کې لاس درلود، چې د فراه د اعلی حاکم امرالدین خان د تحریراتو مدیر و. بل ورور یې مرزا سید عباس خان بهاو، چې د امنیه وزارت کاتب و او د نادرشاه لپاره یې د بر پټ او ښکاره خدمتونه کړي وو، تر څو چې اعلی حاکم او بیا والي شو او نن ورځ د هغه د کورنۍ یو شمېر غړي د هیواد بهر او اشراف وګړي دي.

د دهمزنګ په روغتون کې یو بل بستر شوی بندي د کاپیسا اوسېدونکی و، چې توره ږیره او ښایسته څېره او ځلنده سترګې یې درلودې، هغه به د روغتون په لرګین دهلیز کې ګرځېده راګرځېده او پرله پسې به ټوخیده او لاړې به یې هره خوا بادېدلې، هغه د سرې په سل اخته و. ما هغه ته وویل، چې ستا دغه بې احتیاطي نورو ورونو ته زیان رسوي، هغه ځواب راکړ، چې زمونږ کوټه تفدانی نه لري او نور

Scanned by CamScanner

ناروغان هم همداسې کوي.

دا مهال یې یو بل ناروغ هم راوړ، چې د لرګي په شان وچ کلك شوی و، نوم یې ملهم او د هرات د ولایت اوسېدونکی و، هغه ویل چې ډېر ناروغ دی او بستر ته اړتیا لري، خو ماته یې نن امر وکړ، چې بستر پرېږدم او سبا ته باید د عمومي محبس پنځوس کسیزه اتاق ته ولاړ شم. زه به سبا ته مدیرصاحب ته عرض وکړم، چې ما یو څو ورځې په روغتون کې پرېږدي، که یې ونه منله، نو هر څه چې نصیب و. ما ورته وویل، چې په دغه روغتون کې اوسېدل د زندان له نورو کوټو سره توپیر نه لري، تاسې ولې ټینګار کوئ، چې همدلته پاتې شئ؟ هغه راته وکتل او ویې ویل: پنځوس تنه په یوه کوټه کې یاستو د شپې هر یو خانونه په خلته کې اچوو او سر یې تړو، چې ځانونه له وربو، خسکو (کتملو) او سپږو څخه وساتو. سبا سهار، چې زه د کړکۍ خوا ته ولاړم، نو بنکته مې د روغتون د تیږو په زینه کې ملهم ولید، چې د روغتون اوږد کمیس یې په غاړه و. لږ وروسته د محبس مدیر له یو شمېر نورو سره راځرګند شو. د کنډکمشري نظامي دریشي یې په غاړه وه او له نورو وړاندې روان و. ناڅاپه ملهم په رېږدېدونکو ګامونو او خواره تنه د مدیر مخې ته ورغی او په ناالبنت سره یې ورته وویل: "د خدای لپاره ما له روغتون څخه مه وباسئ" بناغلي مدیر ددې غوښتنې په ځواب کې هغه یوه کلکه لغته ورواهه او د پلار کنځلې یې ورته وکړې.

ناروغ ولوید او دوه لغتې یې نورې هم وخوړې، مدیر تېر شو، سپاهیانو ملهم راپورته کړ او هغه یې بوت. سبا سهار بیا د خپل عادت سره سم د کړکۍ خوا ته راغلم، ګورم چې په انګړ کې یو کټ ایښی دی، چې یوه خیرنه څادر ډوله ټوټه ورباندې هواره ده، دا وخت ملا جوره کوټې ته راننوت او ویې ویل: په دغه کټ باندې د ملهم مړی دی، چې پرون مدیر صاحب هغه وهلی و او د بېهوشۍ په حال کې د شپې ومړ اوس په تمه دي، چې یو ملا راشي، د جنازې لمونځ یې وشي او خښ یې کړي."

د مازیګر د لمانځه پر مهال عمومي وېره خوره شوه او هرې خوا ته منډې رامنډې پیل شوې سپاهیان راورسېدل، ټول بندیان یې له انګړ او شا او خوا څخه راټول او لکه د څارویو په شان یې وهل او لکه د رمې په شان یې په کوټو ننه ایستل او کړکۍ او دروازې یې بندې کړې. زه د کړکۍ خوا ته ورغلم، چې ګورم سپاهیان تیارسۍ کړل شوي دي، لږ وروسته په صدراعظم پسې لا خره یو ډله مامورین او افسران راغلل او د محبس شا و خوا وګرځېدل. صدراعظم وینه رنګه سره نکتایي او توره انګرېزي دریشي اغوستې وه او د تل په شان یې بنې اوږه کینې په پرتله ټیټه بربښېده، کله چې د محبس حالت بېرته عادي شو. بیا ملا جوره کوټې ته راننوت، هغه وویل، چې نن عجیبه پېښه شوې وه کله چې سپاهیانو د صدراعظم د راتګ له امله بندیان په کوټو ننه ایستل، یو بوډا بندي د محبس د ویالې تر غاړې له خپل خپلوان سره پاتې و، دا ځکه چې دغه بوډا په جای نماز باندې د مازیګر لمونځ کاوه او خپلوان یې ورته په تمه و، چې لمونځ خلاص کړي او هغه په شا کړي او د هرې ورځې په شان یې زندان ته ننباسي. سپاهیان په بیړه وو، په هغه یې ژر لمونځ پای ته ورساوه، کله یې چې لمونځ پای ته ورساوه او خپلوانو ته ور په شا شو، صدراعظم راورسېد، دغه بوډا چیغې کړې: "زه بېګناه او مرګ ته نږدې یم پر ما باندې

رحم وکړئ؛ صدراعظم وړاندې ورغی ورته یې وویل: بابا ما ته نه یې بندي کړی، خدای بندي کړی یې زما پر ځای خدای ته عرض وکړه، چې تا خلاص کړي. که زه تا خلاص کړم خدای به ما داسې په څټ باندې ووهي، له دې سره یې خپل ورمېږ په سوك وواهه: بوډا غلی شو او د صدراعظم شریر او غوړه مال ملګري لکه د کوتوالي قومندان، د ضبط احوالات رییس، کابل والي، د محبس مدیر او نورو ټولو د صدراعظم د خبرې د تصدیق لپاره سرونه وښورول او بیا یې یو بل ته وکتل او خپل زور خپګان یې د دغو (ایات بینات او حکمت څخه ډکو جملو) له امله چې د هېواد د میلیونونو وګړو اذهان یې د اوهامو په زنځیر او خرافاتو کې نغاړلي دي وښود.

## د موتي سرای د زندان دوام

زمونږ موضوع په اصل کې د موتي سرای زندان و، له دې امله چې په دغه زندان کې د وینښتانو او نوکانو اخیستل منع و، نو څکه د بندیانو ځېرې ډېر ژر بدلون وموند، تر څو چې د روژې په اختر کې د بندیانو هغو کوچنیانو چې د یوه ساعت لپاره د خپلو پلرونو د لیدلو اجازه موندلې وه، نو کله یې چې خپل پلرونه تر اوږدو پورې په اوږدو ږیرو او ږیرو وینښتانو سره ولیدل ویې نه پېژندل، نوکان یې لکه د ځناورو په شان اوږده او بریتونه یې هم په خوله راغلي وو، نو داسې ژړاوې یې پیل کړې، چې ببخي وتښتېدل. وروسته تر څو ورځو د زندان مامور راغی او اعلان یې وکړ: هر هغه بندي، چې غواړي خپل نوکان واخلي کولای شي، خپل لاسونه د دروازې او تمبې له درز څخه راوکاږي او سپاهیان به یې په خپلو چاکو نوکان ورته اخلي. مامور له دغه احسان څخه ډك اعلان وروسته هیله درلوده، چې بندیان به د شکرانې لمونځونه وکړي او متبوعه حکومت ته به د منننې عریضه ولیکي، حال دا چې دغه بندیان یو آزاد نسل او پخوانیو کلونو پورې تړلي او له موجود رژیم څخه د مخکې رژیم خلك وو، نو څکه تر اوسه پورې لا د ښکېلاك تر سیده اغېزې او د یو تالي څتي حکومت تر واك لاندې مسخ او له لارې نه وو وتلي. دا بیا ډېر وروسته حکومت وکولای شول، چې د څو کلونو په ترڅ کې نوی زلمکیان او له تاریخ او تېر وخت څخه بې خبره ځوانان په خاینانه روزنې او تلقین سره او د دسیسې او تطمیع په زور له لارې کاږه او مطیع کړي.

په همدې محبس کې کندکمشر حبش خان برنډې ته راووت او د حکومت د مطلق العناني او ظلم په وړاندې یې کلکې خبرې وکړې او د ډوډۍ په نه خوړلو یې لاس پورې کړ، همدا رنګه هوټل لرونکي غلام محمد خان خوړل او څښل پرېښودل، نو حکومت اړ شو، چې د لامل پوښتنه یې وکړي. دوی وویل، تر څو زمونږ راتلونکی ونه ټاکل شي او تحقیقات مو ترسره نه شي مونږ روژه نه ماتوو، قومندان ومنله او بیا دوی روژه ماته کړه، خو د حکومت دغه ژمنه دروغ ووته. کندکمشر حبش خان د اسلامبول نظامي تحصیل کړی ځوان و، چې د سقو په وړاندې یې له غلام نبي خان څرخي سره یو ځای خدمت کړی و. دولت هغه له اردو څخه لرې کړ، کله چې هغه له کاتب محمد اکبرخان سره یو ځای یوه قهوه خانه جوړه کړه، نو د کابل ولایت ته یې راوغوښت پېنځه سوه لرګي یې وواهه او بیا یې زندان کې واچولو او هلته دیارلس کاله پاتې شو، خو ددې سرچپه محمد اکبرخان کاتب له مدیریت څخه ریاست ته او بیا په هند

کې د انګرېزانو د قونسل تر دریځ پورې ورسېد او بیا یو وخت د کابل یو شتمن سړی ورځخه جوړ شو. هوټل لرونکی غلام محمدخان د هندوستان یو صادق مهاجر و، چې په کابل کې یې د بریتانیا د سفارت خبر رسول نه و منلي، همدا رنګه د کابل د کافي هوټل لرونکی او سرحدي افغان مت سنګه په همدې ګناه دیارلس کاله په محبس کې پاتې شو او بڼځه یې، چې جرمنی وه افغانستان یې پرېښود. قاضي محمود سنجري، چې یو بل مهاجر و، هغه یې له موتي سرای څخه د سلطنتي ارګ زندان ته د خپل ورور حکیم اسلم خان خوا ته ور وست او هلته یې دیارلس کاله ځکه ورسره بندي کړی و، چې دوی د انګرېز د حکومت له سفارت څخه په کابل کې عفوه نه وه غوښتې. محمدعمر خان، چې په (دراز) سره یې شهرت موندلی و او په جرمني کې یې زده کړې کړې وې او د څرمن جوړولو متخصص و د موتي سرای په زندان کې پې مخامخ قومندان ته وویل، چې: حکومت په خلکو باندې زور راوړي او د افغانستان ځوانان او تحصیل کړي خلك له منځه وړي او زمونږ خبرې نه اوري او ځان نه پوهوي، نو مونږ له شوله چې د تومانچې له خولې څخه خپلې خبرې د حکومت غوږونو ته ورسوو (موخه یې په جرمني کې د پاچا د ورور محمدعزیزخان او د بریتانیا په سفارت کې ترور و) البته حکومت دغه آزاده ځوان دیارلس کاله بند کې وساته تر څو، چې معیوب او بیا په سرګردانیو کې ومړ. کله چې د موتي سرای مأمور، میرعبدالرشیدخان بیغم په یوه ډېره کوچنۍ خبره باندې تر کنځلو او سپکاوي لاندې ونیو، نو بیغم په سوك باندې خوله ورماته او وینې کړه او بیا لس کاله نور هم بندي پاتې شو او څو کاله یې په تبعید کې تېر کړل. د بندیانو لپاره یوه روحي سزا دا وه، چې هېڅ بندي له خپل برخلیك څخه نه و خبر او نه پوهېده، چې له هغه څخه به کوم تحقیق او پوښتنه وشي که نه؟ آیا د هغه د حبس موده به څومره وي، آیا له کورنۍ او خپلوانو سره یې څه چلند کېږي او داسې نورې پوښتنې. البته ددغه ډول ګونګ او ناڅرګندو لنډو شېبو څخه د عمري بند د سزا اورېدل آسانه و، خو حکومت به یو بندي تر مرګ، اعدام یا تبعید پورې ناخبره او په یوه وېښته پورې ځوړند پرېښود، په دې توګه به بندي شپه او ورځ په غم او وېره کې تېرول، په تېره بیا په کوټه کې په یواځیتوب بند ځکه ډېر ستونزمن و، چې بندي به هېڅوك نه لیدل او نه به یې چا سره خبرې کولې. یواځې دا نه، بلکې دولت د یوه بهرني دښمن په بڼه ددغو بندیانو کورنۍ او ماشومان هم تر کلکې سزا لاندې راوستل، د بېلګې په توګه کنډکمشر عبدالغفارخان د حربیې د وزارت د پلان او پروژو مدیر، چې کله په موتي سرای کې بندي شو، حکومت د هغه ورور او خوریان (کنډکمشر عبدالغفورخان، محمدابراهیم خان او عبدالله خان) هم په زولانې تړلي له ده سره بندیان کړل، تر څو چې ډېر کلونه تېر شول او دوی په سپینو ږیرو له زندان څخه ووتل.

زه په خپله ددغه کتاب لیکوال، چې کله د موتي سرای زندان ته ننوتم، زما دوه ورونه په مسکو کې تحصیل کړی غلام حامد بهار تولی مشر، په جرمني کې تحصیل کړی میر عبدالرشید خان بیغم او زما د تره دوه زامن په لندن کې د افغاني سفارت پخواني سکرتر سیداکرم خان او د هغه ورور مرزا سید داودخان هم له ما سره په زولنو کې ولوېدل. دوی لس کاله د زندان زولنې او تبعید کړاو تېر کړ، آن دا چې سید داود خان په تبعید کې د سترګو لید له لاسه ورکړ، دا ځکه چې دولت د څو کلونو په ترڅ کې

ورته د درملنې اجازه ورنه کړه او ړوند شو ، له زندان څخه بهر د کابل د قول اردو د ارکانحرب رييس ميرمحمدشاه خان زما د تره زوی د هېواد له اردوڅخه لرې کړل شو ، چې د خپلې کورنۍ د چلولو لپاره يې د چينې پلورلو هټۍ پرانيسته، زما بل ورور د قول اردو کاتب ميرعبدالعليم له دولتي دندې لرې او د خپل ژوند د پر مخ بيولو لپاره يې کاغذ بادونه جوړول او هغه به يې پلورل. آن دا چې زما کوچنی زوی (د استقلال د ښوونځي د لومړي ټولګي زده کوونکی اسعد احسان) زما له دولسو وريرونو ، خپلوانو او د تره زامنو سره له ښوونځيو څخه وکښل شول (په دې ډله کې ميراحمدعليخان، سيداحمدخان، سيدعبدالاحمد خان، سيدشريف خان، سيدمحمدخان، سيدعزيزخان، سيدبشيرخان، سيدکريم خان، ميرغلام غوث خان، محمدحسين خان، ميرګلخان اونور وو).

البته ددغه ډول سزاګانو اغېزه د هېواد د بېګناه ماشومانو په روح باندې څرګنده وه، چې څه وه. دغه سزا د نورو سياسي بنديانو او د موتي سرای د ټولو زندانيانو د کورنيو او خپلو خپلوانو په برخه کې تطبيق کېده، لکه سرورخان جويا ، محمداکبرخان فارغ، محمدنعيم خان او مير عثمان خان، غلام رضا خان او غلام رسول خان ژباړونکی، د تيلګراف کار کوونکی محمدعليخان، عبدالفتاح خان او عارف خان، ښوونکی ظهورالدين خان، د بهرنيو چارو د وزارت کاتبان او مديران هر يو ، محمدهاشم خان، عبدالغفورخان، عبدالروف خان او پاينده محمدخان، د ښوونځيو زده کوونکی غلام محمد ، محمدعزيز، محمداسحق، محمدزمان خان او محمودخان، زينکوګرافر سيدابوبکرخان، کاتب محمد قاسم خان، مدرس غلام حيدرخان، د انجنيری د څانګې زده کوونکی محمديونس خان، موچي قربان علي، د ضبط احوالات کاتب مرزا شيرمحمدخان د شاهي دارالتحرير کاتب غلام دستګيرخان او يو شمېر نور بنديان، چې نومونه يې په همدې څپرکي کې پخوا راغلي دي.

دولت په موتي سرای کې خپل درې تنه جاسوسان هم دننه کړي وو ، چې يو يې کې هغه پخوانی ويل شوی نيکو و ، مرزا نيکو په ظاهره لکه د نورو بنديانو په شان په زولنو کې و ، خو د شپې به يې مامور ته له بنديانو سره چال چلند ورښود. هغه تر نورو مخکې راخوشې شو او بيا د کوتوالي په قومندانۍ کې د موتي سرای د بنديانو د تحقيق د هيئت د غړي په توګه وټاکل شو ، البته په کابل کې دولت او ښکېلاکګرو نور زلمکيان له هر قشر څخه په جاسوسي چارو کې داخلول، خو د اسنادو له مخې ددغه ډول اشخاصو د هويت څرګندول يو ستونزمن کار دی، چې په دې هکله په تفصيلي استدلال سره خبرې نشي کېدای. د موتي سرای د بنديانو د کوټه قلفۍ موده له يو کال څخه اوږده شوه. په دغه ټوله موده کې په محبس کې په بنديانو باندې له فشار پرته بنديان د محبس د مامور نثار احمدلوګري له خوا د دوی د کورنيو په اړه له ګواښ سره هم مخامخ کېدل او له يو شمېر بنديانو څخه بډې هم اخيستل کېدې. آن دا ، چې دغه خلوښت کلن نثار احمد په يوې دسيسې سره د برېښنا په څانګه کې په جرمني کې د تحصيل کړي يوه بندي شيرمحمدخان يوه کوچنۍ لور د هغې له مور څخه ځان ته واده کړه او د هغې ولور يې د يو شمېر نورو بنديانو له کورونو څخه بود کړ، د بېلګې په توګه د ژباړونکي محمدنعيم خان کور ته يې خبر واستاوه، چې د هغه هغه لمده ده يوه غالۍ ورته را واستوئ د هغه ښځې غالۍ راولېږله ، خو نثار

احمد هغه خپل کور ته یووړه.همدا رنګه د نورو بندیانو له کورونو څخه یې شیان غوښتل. دا ځکه چې په خپله کورنیو له خپلو بندیانو سره هېڅ ډول کومې اړیکې نه درلودې، نو ځکه به یې د محبس د مامور له خوا استول شوي خبر، د خپل بندي د خبر په توګه مانه. حکومت شرير نثار احمد ته، چې د بلوکمشرۍ رتبه یې لرله په کوټوالي کې یې بندیانو ته د ستونزو د پیدا کولو له امله او بندي کړل شویو روڼ اندو ته یې د کړاو ورکولو په بدل کې د غونډمشر رتبه ورکړه، دغه چلند د واکمنې کورنۍ هماغه پخوانی چلند و، چې د خپلو مامورینو ترفیع به یې د خلکو د ځورولو پـه انډول اوچتوله. د هېواد یو زیات شمېر با کفایته مامورین او حکام د پاك نفسۍ او خلکو سره د غوره چلند لـه امله لـه دولتـي دندو او لـه رتبوي ترفیعاتو څخه پاتې او بې برخې شول،خو دغه زلمی شیرمحمدخان د زندان پـه کوټه کې د حکومت تر وحشیانه فشار لاندې ناروغ شو. هغه د طبیب، درملو او لمر هیله لرله، خو یو هم ورته نه و برابر. یوه ورځ بیت الخلاء ته ووت. دده کوټه د زندان مخ په سیوري او جنوبي اړخ کې وه، خو بیت الخلاء د شمال لوري او مخ په لمر لوري ته وه، کله یې چې د بیت الخلاء دروازې تـه مخامخ لمر ولید، نو د برنډې د لرګي ستنې پورې لمر ته کلك ونښت ،چې لږ څه لمر ورباندې ولګېږي، خو سپاهي هغه پـه زور سره له لمر څخه راوکیښ او بیت الخلاء ته یې وشاړه. همدا له لمر سره دده وروستي ځل کتل و، دا ځکه چې هغه ډېر ژر په خپله تیاره کوټه کې لـه نړۍ څخه سترګې پټې کړې. ایا هغه بـه د زندان پـه دغه ډول له وحشت او وېرې څخه په ډکه کوټه کې د خپل ځان، خپلې ښځې، بچیانو او خپل ښکېل شوي هېواد په هکله څه فکرونه کول؟ مونږ تـه نه دي روښانه، خو دومره پوهېږو، چې هغه پـه یوه توره کوټه کې چې هېڅوك ورسره نه و، چې خبرې ورسره وکړي په داسې حال کې، چې د کنډوالو ځکالي ورباندې الوتل را الوتل له نړۍ څخه سترګې پټې کړې. د مرګ دغه دروند خوب له کړاو څخه د ډك ژوند دروندبار د هغه له اوږو څخه راکوز کړ. په هغه سبا یې د هغه مړی په کټ باندې په برنډه کې ایښی و، د مړي په پښو کې یې لا هم زولنې وې، تر څو حکومتي مقاماتو امر وکړ، چې د طب داکتر دې د هغه جسد معاینه کړي، چې ځان یې په مړو نه وي اچولی، بیا یې د هغه له پښو څخه زولنې ماتې کړې او مړی یې کورنۍ ته ورته وسپاره، پـه داسې حال کې، چې دده یـو ځینی مشر ورور د تحریراتو مدیر مرزا نورمحمدخان به د بندیتوب د مودې له تېرولو وروسته د سرك په غاړه ناست و او دعرض کوونکو لپاره به یې عریضې لیکلې او وروسته تر ډېرو کړاوونو څخه ومړ. په دې توګه ددغې کورنۍ وروستۍ ډیوه هم تته شوه، دولت دغه ټولې نادودې ځکه ترسره کولې، چې د افغان ځوانان بې پروا روح وځپي او د دوی ازاده کورنۍ سپکې او وېره کې واچوي. دا مهال دولت په کابل کې داسې وېره خپره کړې وه او داسې قهرجن پروپاګندونه یې کول، چې خلکو د امیرعبدالرحمن په قبر هغه ته دعاګانې وکړې.

# د کوتوالۍ زندانونه

د موتي سرای د بندیانو د کوټه قلفۍ په موده کې نادرشاه ووژل شو او څه موده وروسته بیا د کوتوالي په قومندانۍ او د شاهي ارګ دننه له دغو بندیانو څخه استنطاق پیل شو، چې یو کال وخت یې ونیو. دغه استنطاق څه و او څرنګه ترسره شو؟ د شپې به یې بندي، چې سر او مخ به یې پټ و، د ساتونکو په لاس قومندانۍ ته راوست. د قومندانۍ د کوټې مخامخ یوه لوڅه کوټه وه، چې منځ کې یې د لرګي یو میز ایښی و، ورلاندې دوه ختیني کوزړې وې. بندي به په دغه وچ میز باندې کېنول کېده او په همدې به پرېوت هم. له یوې کوزړې څخه به یې اوبه څښلې او په هغه بله کې به یې متیازې کولې. بندي یوازې نیمه شپه یو ځل له ساتونکي سره یوې پرانیستې بیت الخلاء ته د تګ اجازه لرله او بس. د کوټې دروازې ښیښه نه لرله، چې له بهر څخه کولپ ورته اچول کېده. په چت کې یې یوه دریځه وه، چې کوټې ته رڼا ورشي. که: بندي کورنی به دلته د بندي له راتګ څخه خبره نه شوه، نو بندي اړ و، چې د استنطاق تر پای پورې په همدې کوټه کې ودرېږي او بې بسترې پاتې شي. استنطاق به د شپې له خوا ترسره کېد، کله به چې بندي د انګړ له منځه بېول کېده مخ او سر به یې تړلی و.

د استنطاق کوټه سینګار شوې وه او یوڅه اثاثیه یې هم لرله، بندي به د استنطاق د هیئت مخې ته کېښناست، چې په هیئت کې دغه کسان وو. یاد شوی مرزا نیکو، مرزا خیر محمد خانٌ او یو بل ناپېژاندی.

پوښتنې به یې له یوې بلې کوټې څخه راوړل کېدې او ځوابونه هم بېرته بلې کوټې ته تلل. پوښتنې به په دې توګه وې: محمدعظیم مو پېژاند؟ له هغه سره مو تګ راتګ و؟ د بریتانیا په سفارت باندې د هغه له برید کولو څخه خبر یاست؟ ایا له دغو کسانو سره ستاسې تګ راتګ د څه لپاره و؟ «دامهال به یې د یو شمېر کسانو د نومونو یو اوږد لست رامخې ته کړ». په څه موخه موو سره تګ راتګ کاوه؟ او داسې نورې پوښتنې. د شک په حال کې به یې بندي ته یو بل لست وښود او ورته ویل به یې، چې محمدعظیم دا ټول خپل ملګري بللي او ستا نوم هم پکې شته.

ما لیکوال هم ټول همدا پړاوونه تېر کړل، استنطاق کوونکو د موتي سرای د یو شمېر نورو بندیانو نومونه زما مخې ته کېښودل، چې په هغه کې زما د نوم او د یو شمېر نورو د نومونو تر څنګ په سره قلم باندې لیکل شوي وو، چې:

ارګ ته دې بوتلل شي. زه یو اونۍ په دغه هدیره کې بوخت شوم. د شپې به مې د وره له شا څخه د سپاهیانو خبرې اورېدې، د دوی ټولې خبرې د بندیانو او زندانونو په هکله وې. د دوی له خبرو څخه وپوهېدم چې د کوتوالي په لوی زندان کې سیاسي بندیان لکه محمد عزیزخان غوربندي «د شجاع الدوله ورور»، د محمد ولي خان خوریې، محمدامین خان، محی الدین خان انیس او نور پراته دي او هغوی ته حکومت دوه ورکوي. ببوزلو ته یې د بل چا له خوا مرستې رسول کېږي. په دې ډله کې یوه ژباړونکی، چې محمدمیرجان نومېد، په دې باندې توانېدلی و، چې په خپل لاسلیک سره په قاچاق ډول یو لیک صدراعظم محمدهاشم خان ته واستوي. دغه لیک د کابل په ډاک کې هغه ته رسېدلی و، په لیک کې یې

صدراعظم په څرګند ډول په جنایت او ظلم تورن کړی و او هیله یې ورڅخه کړې وه، چې په نره یې ووژني او له دغه تدریجي مرګ څخه یې وژغوري.

صدراعظم دغه لیک د کوتوالي قومندانۍ ته ، استاوه. قومندان د زندان ټول مامورین په دې باندې وپوهول، چې که چېرې وروسته تر دې کوم سیاسي بندي وکولای شي، چې له زندان څخه بهر چا سره اړیکې ومومي،نو د بندي پر ځای به د همدوی په لاسو او پښو کې زولنې واچول شي.

یوه بل سپاهي نکل کاوه،چې: قومندان د تحقیق په ترڅ کې میر عزیزخان او میر مسجدي خان له وینستانو ځوړند کړل او هغوی د شپې پانو په خپرولو اقرار وکړ او اعدام شول. بل سپاهي ورته وویل له وینستانو ځوړندول آسانه دي. یو بل بندي چې سراج الدین نومید او د یوه غزل په لیکلو یې اعتراف نه کاوه، څومره یې چې وواهه، قین او پانه یې کړ، هغه سوڼ هم ونه کړ، د شپې یې قومندانۍ ته راوست، قومندان ورته وویل: زه په تا باندې په همدې غونډه کې اقرار کوم. بیا یې غږ وکړ، چې مامور عبدل راولئ، مامورعبدل وزیر آبادي راورسېد ،قومندان ورته وویل: عبدل خانه! دغه هلك وینې، چې خیانت یې کړی دی او اقرار نه کوي، ته مې راغوښتی یې، چې اقرار ورباندې وکړې.مامور عبدل د بندي سرته راغی ورته ودرېد ، هغه ته یې ګواښ وکړ، چې شرمناك عمل به ورسره وکړي. بندي دستي قومندان ته وویل قلم او کاغذ راکړئ، چې ما څه کړي هغه درته لیکم، په دې توګه یې له هغه څخه لیك واخیست.

ما د همدغو سپاهیانو په خبرو کې واورېدل، چې د کوتوالي په کوچني توقیف خانه او د «سپوت سوان» په توقیف خانه کې «دغه ټول توقیف خانې یو بل سره څنګ په څنګ د کوتوالي د قومندانۍ خواته دي» په سلګونو بندیان و، چې دوډۍ نه ترلاسه کوي،د هغوی کورونه په لرې پرتو کلیو کې وو. دوی به د لوږې له لاسه هره غرمه او ماښام په انګړ کې راټولېدل او د څو تنو شتمنو بندیانو دسترخانونو ټك وهلو ته یې سترګې نیولې وې. کله به یې چې د هغوی دسترخانونه وځنډل شول دوی به وربانده ورټول شول هډوکي او د ډوډۍ بځرکي او نور د خوړاك پاتې شونې به یې خوړل، چې ځینې وخت به د دغو وږیو تر منځ وهل هم وشول، دغه بدمرغه ډله چې د هغوی په اصطلاح مزدور لیکوال بلل کېدل او د افغانستان جدید اولولاده «شاهانه صادق رعایا او برایا» د افغانستان سیاسي استازي وو ، د دوی تر ظلم لاندې په دې توګه ټکول کېدل.

له دې کلونو څخه ډېره موده وروسته محمد معصوم خان المجددي، چې په مراد خانیو کې د کوتوالي د توقیف خانو تر څنګ یې کور و، ماته وویل ، چې:

"یوه شپه میرعبدالعزیز خان د کابل ولایت د پولیسو سر مامور په اندېښني سره زما کور ته راغی «دغه سړي په لندن کې زده کړې کړې وې، په پیل کې د شاهي ارګ د ضبط احوالات مدیر و او بیا وروسته د افغانستان د ضبط احوالات رییس شو، چې په پای کې د کابل والي شو» ما د هغه د اندېښنې د لامل پوښتنه ورڅخه وکړه هغه وویل : همدا اوس د توقیف خانې له انګړ څخه راتېر شوم، هلته مې د هډوکو د ماتېدو غږونه واورېدل، کله چې مې په لاسي څراغ هغې خوا ته رڼا واچوله، ګورم چې څو تنه بندیان په یوه تیاره څنډه کې په هډوکي راټول دي او په غاښونو یې ماتوي او له ډېرې لوږې څخه هغه خوري. دې

نکل زه ډېر خواشيني کړم. مجددي راته وويل: "په هغه شپه ما د ډوډۍ څکه ونه کړه، په هغه سبا مې يو ډنګر اس چې خلکو پلورلو ته راوستی و په بيه واخيست، هغه مې حلال کړ او ښوروا او سلو ډوډيو سره مې د شپې د ساتونکو په اجازې سره توقيف خانې ته بې وزله بنديانو ته ور وړل، له هغې شپې وروسته به مې هره شپه پنځوس وچې ډوډۍ او څو کاسې ښوروا هلته لېږل.

يوه اونۍ نه وه تېره، چې يوه شپه د ضبط احوالات رييس مرزا محمدشاه زما کور ته راغی او ويې ويل: "والا حضرت صدراعظم صاحب (محمدهاشم خان) وايي، چې ما اورېدلي دي، چې تاسې د کوتوالي بنديانو ته د شپې ډوډۍ لېږئ، بايد په راتلونکي کې داکار ونه کړئ، داځکه چې حکومت غواړي چې هغوی تاديب کړي، تر څو اصلاح شي."

زه په خپله کله چې په فراه کې تبعيد وم، په هغه ښار کې مې څو څو ځله وليدل، چې بېوزله بنديان به يې د يو مړۍ ډوډۍ لپاره بازار ته را ايستل او هتې په هتې به يې ګرځول. خو په څه ډول؟ د هربندي په غاړه کې به د اوسپنې غړوندی پروت و او هغه پسې به يو اوږد زنځير و، چې د زنځير سر به د سپاهي په لاس کې و، په داسې حال کې، چې د واکمنې کورنۍ او د دوی لويانو او مرستندويانو د انګلستان د ډېرو شتمنو لارډانو په شان ژوند د همدغه ملت په پيسو و. د کوتوالي بل وروستی قومندان خواجه محمدنعيم، چې پخوا په خپله د صدراعظم محمدهاشم خان د ظلمونو د ښوونځي يو مامور و، يو وخت کې وروسته بيا ماته داسې کيسه کوله:

"د کابل په زندانونو کې درې ډوله بنديان پراته وو، يو يې حقوقي او جنايي تورن وو، بل يې سياسي بنديان او دريمه ډله هغه خلك وو، چې نه حقوقي او جنايي تورن وو، نه سياسي، بلکې هېڅ ډول کومه دوسيه يې د دولت په ادارو کې نه لرله. دوی يواځې د عقل او فکر د لرلو له امله بنديان شوي وو د دوی دوسيه فقط د باشد (وي دي) کلمه وه، چې دغه باشد به د صدراعظم په قلم باندې ليکل کېده، هر ځل به چې د بنديانو لست صدراعظم ته وړاندې شو، هغه به د دوی د نوم تر څنګ هماغه د (باشد) کلمه ليکله. په دې توګه د باشد کلمه دومره عامه شوه، چې کله به که له کوم بندي څخه پوښتنه وشوه، چې ته د کومې ډلې بندي يې، ويل به يې د باشد د ډلې. نور نو ددغه ډول بندي په هکله د تحقيق او پوښتنې کولو اړتيا نه وه، په دوی کې يو يې د غلام حضرت خان نوم ورګډ کړ، کله چې دغه لست صدراعظم ته وړاندې کړ، ويې لوست او ويې ويل، دغه غلام حضرت کوم يو دی؟ ما ورته وويل د شمالي اوسېدونکی او يو بوډا له کاره لويدلی او بې دوسيې سړی دی. صدراعظم وخندل او ويې ويل: فرزند! (هغه خواجه ته فرزند وايه). دغه سړي ډېر ژور فکر لري بايد په محبس کې پاتې شي. خواجه وويل: له همدې ورځې څخه وروسته پوه شوم، چې آيا د دولت پروګرام څه دی؟ او څه کوي؟ يعنې هوښيار او په يو څه باندې پوه سړی، که څه هم بېګناه وي، بايد په ټولنه کې آزاد نه وي. څو کاله وروسته دغه خواجه له سيد اسمعيل خان بلخي او څو نورو کسانو سره يوه پټه کړۍ جوړه کړه او د نوروز ورځ يې د صدراعظم شاه محمودخان د ترور او يوه وسله وال پاڅون لپاره وټاکله. البته د دولت جاسوسانو د هغه له اقدام کولو څخه مخکې کشف او دوی ټول زندان ته واچول شول او هلته کلونه کلونه پاتې شول.

Scanned by CamScanner

## خو د شاهي ارګ زندان

د ارګ د وربوي په ختيځو او جنوبي خواوو د برالونو سره نښتې د پخواني ګارد له کوټو څخه پرته یو شمېر نوې کوټې هم جوړې شوې، چې لمر يې نه درلود، هره يوه کوټه ډېره کوچنۍ او دهليزونه ډېر تنګ او زړه تنګي وو. په دغه شاهي محبس کې څه نا څه سل تنه سیاسي بنديان پراته وو، چې په دريو برخو ویشل شوي وو: اشراف، منځنۍ طبقه او ټيټه طبقه. د اشرافي بنديانو زولنې نه وې او وريجې ورته ورکول کېدې. منځنيو زولنې لرلې، خوراك يې سالان (کتغ) و او ټيټې طبقې یواځې وچه ډوډۍ ترلاسه کولای شوه، دوی په عمومي توګه شپږ کاله په کوټه قلفي کې پاتې شول، سره له دې چې په وروستيو کې دوی ته اجازه وه، چې د ورځې يو ساعت له خپلو کوټو څخه ووځي او لمر ته هم کېني، خو بيا هم وهل او کنځل معموله خبره وه. د دوی په هکله خبره تر دې بريد پورې ورسېدله، چې یو ځل به يې بهر ته وکتل که څوك به نه و راوتل به که نه، نه راوتل.

د بېلګې په توګه عبدالهادي داوي به له کوټې څخه تر راوتلو د مخه یو ځل سر رابهر کړ، که چېرې د زندان مامور سراج الدين چرسي به يې وليد، ژر به بېرته دننه شو، که هغه به نه و، نو بيا به راووت، دا ځکه چې سراج الدين ګرديزي څو څو ځله ورته په بېلا بېلو بهانو پوچې کنځلې کړې وې. همدغه سپك وضعيت داوی د ضعف او خواري لورې ته نږدې کړ.

د ارګ یو شمېر بنديان به، چې استنطاق ته بيول کېدل، مجبور وو، چې له کنځلو اورېدو پرته به وهل، تيلداغ، قين او پانه هم وزغمي، په دې توګه دغه سیاسي بنديان له ۱۳ - ۱۷ کلونو پورې په شاهي زندان کې بند تېر کړ، خو هغه شمېر چې مړه شول یا ووژل شول د هغوی مړي ژر بهر شول. ددغه ډول ظلم او د دغو فجايعو له امله د کابل روڼ اندو نادرشاه ته نادر قصاب وایه او صدراعظم باندې يې د جاني اعظم نوم ايښی و.

## د روڼ اندو د مبارزې پايله

روڼ اندو د خپلو تودو مبارزو تر څنګ په قلمي او تبليغي مبارزې هم لاس پورې کړی و او مبارزين يې د ګوند جوړولو او د نادرشاه د دولت له منځه وړلو ته هڅول، دلته به د دوی د قلمي مبارزې یو بېلګه راوړو:

ز ظلم جان به لب آمد چه انتظار کشيد
به ياد سوختگان شمع سان شرار کنيد
کنيد معرکه برپا بضد ظلم و ستم
ز خاك مرتجعان بر هوا غبار کشيد
در این زمانه بگیتی کسی ندید و شنيد
حکومتی که وطن را به چاله زار کشيد
سنگری که بسود کليك و فاميلش

بصدد شکنجه ز ما و شما دمار کشید
جنایتی که به ملك این وطن فروشان کرد
خمید چرخ چو آن بار ننگ و عار کشید
مظالمی که از و شان کشید نسل جوان
گمان مبر که توان دوش روزگار کشید
چنان به خلق «مساوات و عدل» برپا کرد
که کل زبان، بجز اشراف و پولدار کشید
نه یکه ما و تو از این فساد مینالیم
فغان و ناله زهیر تیره و تبار کشید
از اینگروه کفن کش که تا زپا نفتد
گمان مبر ز فجایع کنون کنار کشید
نشسته دست به پهلو، امید خیر و صلاح
چسان توان ز چنین باند نابکار کشید؟
نجات هموطنان بسته بر جهاد شماست
کمك ز غیر نشاید که انتظار کشید؛
به پا شوید و بهم دست اتحاد دهید
که داد از این حکومت بی بند و بار کشید
گذشت دور شکیب و رسید فرصت آن
چه خوش ز حرف، عمل را بکار زار کشید
شوید در پی تشکیلی ای ستمزدگان
که جان سلامت ازین وضع بیقرار کشید
به این و آن نشود رفع قهر خلق، مگر
که انتقام به شمشیر آبدار کشید
زنید دست بیك انقلاب ظلم شکن
که یك به یك سر این خائنان بدار کشید
زمن مپرس زبیداد این رژیم خبیث
چه دید دیده و این قلب داغدار کشید
چها گذشت به ما زین «سه گانه» دشمن نوع
گداخت صبر و فغان از دل فگار کشید
کنید روی وطن پاك از این پلیدان تا
بروی از خود و بیگانه افتخار کشید

*((په دغه شعر کې د (سه ګانه) څخه مراد نادرشاه او د هغه دوه ورونه وو))*

په پای کې ددغو قلمي او تبلیغي مبارزاتو دوام د ترور په عملي اقدام پای ته ورسېد، چې پیل یې هماغه د سید کمال خان شهید تود پروتست و، چې د انګلیس دولت ته متوجه و. دا ځکه چې په هغه مهال کې د افغانستان روڼ اندي په دې باندې پوهېدلي وو، چې د افغانستان ددغو ټولو بدمرغیو اصلي لامل او د لاملونو مور د انګرېزانو لاسوهنه ده، نو ځکه په کابل کې یو ځوان راپاڅېد او د سیدکمال خان له فورمول سرچپه، چې ویلي یې و (آس ووهه، چې خاوند یې وویرېږي) دا وینا وکړه، چې: ' سپور ووهه، چې آس وویرېږي!' نو په دې توګه د بریتانیا د دولت د سفارت پېښه په کابل کې رامنځته شوه.

## د انګرېزانو په سفارت کې تــرور

د امیر عبدالرحمن له وخته را په دې خوا په کابل کې د (منشي زاده) په نوم یوې منځنۍ طبقه کورنۍ ژوند درلود، د کورنۍ پلار منشي محمدنذیرخان و، چې په انګلیسي ژبه باندې پوهېده او رسمي دنده یې لرله. دده زامن په عمومي توګه د زده کړو لرونکي وو. په دوی کې یو هم محمدعظیم خان و، چې د حبیبیې په لیسه کې زده کوونکی و او بیا وروسته د پاچا امان الله خان په دوره کې په جرمني کې په زده کړو بوخت و. کله، چې بېرته کابل ته راستون شو، په جرمني کې یې له یوې جرمنۍ ښځې (چې رورا نومېده) سره واده کړی و، هغه یې هم ځان سره راوستې وه، خو دغه ښځه وروسته بیا بېرته جرمني ته ولاړه او هلته یې د (رور اعظم) په نوم یو کتاب خپور کړ. محمدعظیم تقریباً د ېرش کلن ځوان و، د سپیني څېرې لرونکی، د ښایسته بڼې خاوند، خو لږ څه خوار و. یو حساس وطنپال، د لوړ فکر لرونکی، لیکوال او په جرمني او انګلیسي ژبو پوه او په عین حال کې د هغو ژبو ژباړونکی و. دغه ځوان د هېواد له کورنی وضعیت او بهرني سیاست څخه ډېر کلك ځورېدلی و، نو هېڅ شك نه و، چې ده انګرېزان او د انګرېز دښمنانه سیاست د هېواد ددغه داخلي بد وضعیت، ظلم او غمونو سرچینه بلله، چې د لاسپوڅي یوه دولت په بڼه یې د هېواد د سفیر مختار په وژلو سره نړۍ ته اعلان کړي، چې د افغانستان خلك د انګرېزانو د دولت له دغې پټې پالیسي او د هغه رژیم له اصلي ماهیت څخه، چې په افغانستان واکمن دي، په تنګ دي او له هغوی سره مخالف دي.

د پنجشنبې ورځ وه، د ۱۳۱۲ل کال د وږي د میاشتې پېنځلسمه (د ۱۹۳۳م. کال د سپتمبر[۱] شپږمه) نېټه باندې محمدعظیم خان خپل بکس په لاس کې او د انګلیس د سفارت د دروازې خوله کې ولاړ و. البته د دروازې ساتونکی سپاهي هغه ته سفارت ته د ننوتلو اجازه نه وه ورکړې. محمدعظیم خان د سفارت یوه مامور ته وویل، چې د یوې مهمې موضوع په هکله د خبرو په خاطر د بریتانیا د مختار وزیر د لیدلو په خاطر راغلی. ستینجر د سفیر له لوري دا ځواب راوړ، چې کوم څه چې غواړې هغه همده ته ووایه، چې سفیر ته یې ووایي.

دا ځکه، چې په خپله سفیر د کتنې لپاره وخت نه لري. محمد عظیم خان پوه شو ، چې سفیر له ناپېژانده سړي سره کتنه نه کوي، نو ستینجر ته یې وویل، ښه نو چې سفیر نه غواړي، نو زه به تاسې د هغه پر ځای ومنم. دا یې وویل او خپل لاسي بکس یې پرانیست. همدا ، چې د مستر ستینجر سترګې په تومانچه ولګېدې، په بېړه په تېښته شو ، البته محمدعظیم خان ورپسې شو او هغه یې وویشت. دا یوازې نه، بلکې محمدعظیم خان د دغه سفارت دوه هندي او افغان کار کوونکي، چې یو یې د سفارت منشي او بل یې بنوال وو هم وویشتل. دا ځکه چې هندي دده د هېواد له ښکېلاکګرو سره او افغان د خپل هېواد د دښمن سفارت ته خدمت کوي، نو په همدې ګناه یې هغوی ووژل. دا وخت یې تومانچه وغورځوله او ودرېد ، چې د سفارت سپاهیان راشي او ځان ورته تسلیم کړي. دا مهال په خپله سفیر راووت او دښمن یې سر تر پښو ولید او ورته یې وویل: ما ومنله، چې دغه ګولۍ زما په تتر لګېدلې دي. عظیم خان ځواب ورکړ:

"دا ددې لپاره و ، چې د لندن د بهرنیو چارو وزارت پوه شي، چې افغانان دوی پېژني، په هره جامه کې چې افغانستان ته راځي دوی پوهېږي."

وروسته تر دغو لنډو خبرو ځخه مختار وزیر بهرته د سفارت ودانۍ ته ننوت او محمد عظیم خان مخامخ د کابل د کوتوالي د قومندان ځانګړي زندان ته واچول شو.

دغه خبر په کابل کې په ډېر لږ وخت کې خپور شو او په واکمنو کړیوکې وېره خوره شوه، وروسته بیا د حربیه وزارت د قلم مخصوص مدیر مرزا محمدیوسف خان ماته کیسه کوله، چې: "شاه محمود خان د خپل سرای په چمن کې د تینس لوبه کوله،زه د چمن خواته ولاړ وم، د موټر د هارن غږ واورېدل شو ، دې پسې وروسته محمد هاشم خان راغی. شاه محمود خان یې هر کلي ته ورغی، صدراعظم محمدهاشم خان په الوتې بڼه او په غوسې سره وویل: "واموورېدل، چې بیا یې څه وکړل؟ یو تن د بریتانیا سفارت ته ننوتی دری تنه یې وژلي دي، د حربیې وزیر چې پریشانه شوی و ،ویې ویل: تاسې باید دا ځل د کابل خلکو ته داسې سزا ورکړئ، چې تر څو ژوندي وي هېره یې نه کړي. صدراعظم بهرته ستون شو ، د حربیې وزیر لوبه پرېښوده او مونږ یې رخصت کړو."

دولت د یوې اونۍ په ترځ کې له محمد عظیم خان څخه لیکلې تحقیقات بشپړ کړل، خو هغه یې پټ وساتل، دا ځکه چې د هغوی له افشا کېدو څخه په وېره کې وو. البته له شرعي محکمې څخه یې د هغه د اعدام فیصله ترلاسه کړه، دا ځکه چې محمدعظیم خان په څرګنده اعتراف کړی و او دغه کار یې خپل ویاړ او خپله دنده بللې وه، نو ځکه د هغه د اقرار د ترلاسه کولو لپاره شکنجې او کړاوونو ته اړتیا نه وه. ددغسې پېښې په ترځ کې د بریتانیا د سفارت مشوره او د انګلیس دولت پښه هم وه. حکومت په دغه پښه کې هغومره آزادي نه لرله، لکه په نورو سیاسي پېښو کې یې چې لرله . یوه اونۍ وروسته د پنځ شنبې په ورځ د ۱۳۱۲ ل. کال د وږي په ۲۲مه نېټه (د ۱۹۳۳م. د سپتمبر په ۱۳مه) محمدعظیم خان د کوتوالي له محبس څخه د دهمزنګ محبس ته بوتلل شو.

په داسې حال کې، چې د بریتانیا د سفارت استازی پر څوکۍ باندې ناست و محمد عظیم خان یو د

وربښمو پټکی په سر کړی و او بې پامه د انګرېزانو د سفارت د استازي له مخې تېر شو او په مېړانه او زړورتیا سره د غرغرې دار لاندې ودرېد، وروسته تر څو شېبو نور، نو محمدعظیم خان په دې نړۍ کې نه و، خو د هېواد د سیاسي مبارزو په تاریخ کې د تل لپاره ژوندی پاتې شو. د قاضي په وړاندې د محمدعظیم خان د اخلاقو او شرافت په وړاندې یو درواغجن شاهد هماغه نامتو مرزا نیکو و، چې په ښکېلاك او د دولت په جاسوسۍ پورې یې تړلتیا څرګنده وه. د هغه تورونه ټول دروغ، نامردانه، کرکجن او خاینانه وو، چې غوښتل یې قاضي غلط پوه کړي.

خو دولت څه وکړل؟ وروسته تر هغه چې محمدعظیم خان اعدام شو، د اصلاح دولتي ورځپاڼې د ۱۳۲۲ل. کال د وږي د میاشتې په ۲۷۸مه ګڼه کې (په ۱۹۳۳م. کال) د (فیصله اعدام محمد عظیم قاتل) تر عنوان لاندې ډېر درواغ او رښتیا ولیکل. ددغې دولتي ورځپاڼې له دغو ټولو اوتو بوتو څخه همدا یو حقیقت ترلاسه کېږي او هغه د قاضي (ملا احمدخان غزنوي) حکم دی، چې ویلي وو: "محمدعظیم خان د درې تنو په وژلو اقرار کړی دی او ویلي یې دي، چې د انقلاب هیجان او عمومي آزادي د تولید غوښتونکی دی..." د افغانستان دولت په دې ډول پېښو کې د توطیې او دسیسې د مکتب پیروي کوله. د بېلګې په توګه د اصلاح د ورځپاڼې په همدغه ګڼه کې یې د محمدعظیم خان د پټ د پایمال کولو لپاره یوه جعلي پاڼه، چې د محمدعظیم خان په ضد له تورونو ډکه وه، د هغه اقرار خط په نوم خپره کړه، ددغې لیکنې په څنډه کې چې نېټه نه لري د حکومت درې تنو نوکرانو ملا احمد غزنوي، د کوتوالي قومندان طره باز او د ضبط احوالات رییس مرزا محمدشاه دغه لیکنه کړې وه:

"دغه متن مونږ ته محمدعظیم په خپل قلم لیکلی دی." بیا یې لاسلیك کړی. په هر حال، حکومت چې په سیاسي وژنو کې د شریعت او قانون تابع نه و ـ ولې یې دغه قضیه شرعي محکمې ته وسپارله؟ دا ځکه چې د افغانستان خلکو له انګرېزانو څخه ډېره کرکه لرله او بد حساسیت یې ورسره درلود، نو ځکه سلطنت د محمدعظیم خان اعدامولو ته په ظاهري توګه شرعي بڼه ورکړه، تر څو تر ممکن حد پورې د خلکو قناعت ترلاسه کړي.

دولت په دغه سپك چلند سره په هغه ورځ چې محمدعظیم خان اعدام کړ، د روڼ اندو د سترګې د سوځولو لپاره خواجه هدایت الله خان هم په دار وځړاو (خو هغه یې لکه د محمدعظیم خان په شان شرعي محکمې ته نه وسپارلی) او د موتي سرای په نامتو زندان کې یې له ۳۲ څخه زیات ځوانان ور واچول. دوه ورځې وروسته یو شمېر نامتو نور بندیان لکه محمد ولي خان، غلام جیلاني خان او نور هم اعدام شول. تر څو د انګلیس د سفارت بشپړه خوښي ترلاسه شي. همدا رنګه په کابل کې نظامي حکومت په خپل ترور او وېره اچونې کې زیاتوالی راوست. دغه ټولې خونړۍ پېښې د وطنپالو افغانانو په مخکې وې، په دې کې یو هم دا پېښه وه، چې یو ځوان پاڅېد او ویې ویل: "سید کمال خان او محمدعظیم خان شهیدانو او د مار لکۍ ور پرېکړه، خو اوس زما وار دی، چې باید په خپله مار ووژنم." دا د عبدالخالق خان وینا وه. په دې توګه اووه میاشتې وروسته د روڼ اندو ډېر کلك ګوزار د دولت پر تخت او تاج ور برابر شو او دغه جباره او ویجاړونکې دستګاه یې ولړځوله.

Scanned by CamScanner

# د نادر شاه وژل کېدل

د بریتانیا په سفارت کې تر وژني څخه دوه میاشتې او یوه ورځ وروسته د ۱۳۱۲ل. کال د لړم په شپاړسمه (د ۱۹۳۳م. د نومبر په اتمه) نېټه باندې د دلګشاد ماڼۍ په چمن کې، یعني هماغه ځای باندې چې یو کال مخکې هلته غلام نبي خان څرخي په وحشیانه بڼه د ټوپکو د قنداغونو او شپېلیو تر ګوازرونو لاندې ووژل شو، د معارف زده کوونکو ته د انعام د ویشلو غونډه جوړه شوې وه. په دغې غونډه کې ګڼ شمېر لوړ رتبه ملکي مامورینو او نظامي افسرانو برخه اخیستې وه او په پام کې وه، چې په خپله نادرشاه به په هغې کې ګډون کوي. کله چې پاچا د ماسپښین په درې بجو راورسېد او د غونډې ګډونوال یې هر کلي ته پاڅېدل او په هغه شېبه کې، چې پاچا د هر کلي کوونکو د لومړۍ لیکې له مخې څخه تېرېده، د دوهمې لیکې له منځ څخه یو ځوان چې اوولس کاله عمر یې و، خپله تومانچه د خپل ملګري محمود خان پر اوږه چې په لومړۍ لیکه کې ولاړ و، کېښوده، د نادرشاه پر ټټر یې درې وارونه وکړل. پاچا وغورځېد او له هغه سلطنت څخه یې سترګې پټې شوې، ، چې په ډېرو خواریو یې ترلاسه کړی و. په غونډه باندې وېره خوره شوه، شهزاده محمد ظاهرشاه، چې نولس کلن و د خپل پلار په مړي کېښناست، خو د پاچا ورور د حرب وزیر شاه محمود خان په بېړه د ارګ د دیوال خوا ته روان شو (صدراعظم محمد هاشم خان مخکې د افغانستان شمالي ولایتونو ته سفر کړی و.)

ویشتونکی ځوان (عبدالخالق) چې کتل چې پاچا مړ شو، په خپله یې ورته کتل او تومانچه یې وغورځوله. دا څکه چې پرته د پاچا له وژلو څخه یې بله موخه نه درلوده له دې امله چې بله کومه پېښه ونه شوه افسران راغلل او ویشتونکی یې ونیو. د پاچا مړی یې ارګ ته دننه کړ. ویشتونکی د هزاره د سیمې او د ټولنې د محرومې طبقې د یوې خواریکښې کورنۍ څخه و. ۱۷ کلن عبدالخالق د نجات د لیسې زده کوونکی او یوه نهه کلنه خور یې درلوده، چې حفیظه نومېده. عبدالخالق منځنۍ ونه او سپین پوټکی او هډور اندام درلود. زړور و او په تومانچه یې ښه نښه ویشتلای شوه، دا څکه چې لا مخکې یې په ستالف کې له خپلو ملګرو سره ډېر مې ښې ویشتې وې.

په هر حال، د پاچا وژل کېدو د افغانستان په راتلونکي کې ژورې اغېزې وکړې، سره له دې چې د ښکېلاکګرو سیاست په دې ډول پېښو سره بدل نه شو، خو بیا هم خپل تاکتیک یې بدل کړ. دغه بدلون د ادارې په ډګر کې او له ځوانانو سره د چلند په برخه کې تر سترګو شو. وروسته تر دغې پېښې څخه واکمنې کورنۍ د روڼ اندو په ډله ییزه وژنه کې له احتیاط څخه کار واخیست.

دا څکه، چې ښکاره خبره وه، چې د دولت وژنو نشو کولای چې یو ځوان نسل بېخي له منځه یوسي؛ خو د ځوانانو ترور کولای شول، چې د دغه ډول عمل په تکرار سره د سلطنت د ګوتو په شمار غړي ټول له منځه یوسي، نو بیا به څه ډول رژیم په افغانستان کې رامنځته کېږي؟ سره له دې، چې دا نامعلومه وه، خو بیا هم د داسې رژیم رامنځته کېدل نه تر سترګو کېدل، چې هغه به د ښکېلاک د غوښتنو په ضد و. نو څکه د دغه ترور اغېزه د سلطنت د سیاست په تکتیک کې بدلون راوست، خو بیا هم د دولت د

پخواني سیاسي ستراتیژي په بدلون کې ډېر بدلون رانه وست. د نادرشاه له وژل کېدو څخه وروسته د هېواد په اداره کې یې یو څه بدلونونه راغلل، چې ډېر ورو او تدریجي وو، دا ځکه چې یو مستبد او ستمګر ظالم رژیم خپله بقا د استبداد په ساتنه او زیاتولو کې لیدله نه د ظلم په ورکولو کې. په دې توګه سلطنت یو څنډنې او تدریجي چلند غوره کړ، خو هغه پخواني نقاب یې پټ وساته، خو په پټه په وېره کې و او د نویو ملاترو، پلویانو او همکارانو په لټه کې شو، یعنې دولت پخواني وژنې به غلچکیو دسیسو باندې بدلې کړې. البته د افغانستان خلکو ته له معنوي پلوه دغه چلند دتورو د مخامخ جګړې په پرتله لا زیات زیانمن و.

ددغو ټولو سیاسي چال چلندونو سره سره سلطنت یو ځل بیا خپل وحشیانه ماهیت او اصلیت را څرګند کړ او دافغانستان د وطنپالو زامنو د وینو پر ویاله باندې یې د یوه نوي سلطنت د بنسټ ډبره کېښوده. نور نو سلطنت د هغه لېوه بڼه غوره کړې وه، چې له قهره یې سترګې سرې وې او غوښتل یې هر هغه څه چې په مخه ورځي تر کومې یې تېر کړي، خو له ډېرې وېرې یې لکۍ هم د پخلاینې لپاره ښورولهاو دسیسې او چلوټو ته یې لاس اچاوه.

# دریم څپرکی

## د استبداد دوام ۱۳۱۲ – ۱۳۲۵ل
## (د محمدهاشم خان د حکومت په ترڅ کې ۱۹۳۳نومبر – ۱۹۴۶می)

### د درې ورونو د سلطنت اوښتل د دوو ترونو (یا دوو ورونو) په حکومت

د نادرشاه وژل کېدل یو ناڅاپه پېښ شول، دا ځکه چې سلطنت له خپلو پراخه جاسوسیو سره او د خپل خان د ساتنې له وسایلو سره سره او د هغه تېول وحشت او ویرې خورولو سره سره یې، چې د ډله ییزو وژنو په ترسره کولو، د کړاوونو په ورکولو او په هېواد کې د راز راز ویروونکو زندانونو په رامنځته کولو او د فردي ګناه په تور د بشپړې کورنۍ په بربادولو سره رامنځته کړي وو. هېڅکله یې د کابل د رونِ اندو له خوا د دا ډول زړورتیا تمه نه لرله. له بلې خوا خورو ورو رون اندو هم دې ډول پېښې اټکل نه و کړی، دا ځکه چې د تېرو څلورو کالو تجربې ښودلې وه، چې هېڅ وطنپال خپل خطرناك اقدام آن خپل ډېر نږدې دوست ته هم نشو ویلای او د خپل عمل له ترسره کولو مخکې د هغه افشا کول یې ناممکن نه ګڼل، نو ځکه د نادرشاه په وژل کېدو سره لکه هغسې چې د سلطنت واني وتښتېدي، ځوانان هم بې پرېکړې پاتې شول، خو د سلطنت حیرانتیا یوازې درې ساعته وه، په دې معنا چې نادرشاه په درې بجو ووژل شو او د مازیګر تر شپږو بجو پورې لا د کابل خلك پوره له دې پېښې څخه نه وو خبر، په همدغو درې ساعتونو کې ددغه رژیم د ملاتړ کوونکو پیاوړو لاسونو د منلو وړ یو ګام اوچت کړ او د اردو افسرانو هم د رژیم ملاتړ ته راودانګل، یعنې د کابل پوځ یې د ظاهرشاه بیعت ته اړ کړ او ډېر ژر یې په تخت باندې د هغه د کښېناستو د توپونو د ډزو غږ د کابل د بې خبرو خلکو تر غوږونو پورې ورساوه. کټ مټ همدا کار د هېواد د ټولو ولایتونو په ښارونو کې ترسره شو، له لږ ځنډ څخه وروسته خلك له یوه ترسره شوي کار سره مخامخ شول. په دې توګه د سلطنت نوم له نادرشاه څخه وروسته دده زوی ته، خو رښتینې واك دده دوو ورونو (محمدهاشم خان او شاه محمود خان) ته وسپارل شو. په دې توګه د دوو ورونو سلطنت د دوهمې نړېوالې جګړې تر پای ته رسېدلو پورې، یعنې څوارلس کاله اوږد شو. په دغه موده کې ظاهرشاه لکه د شاه شجاع په شان پرته له نوم څخه نور څه واك نه درلود او د سلطنت په چارو

کې یې هېڅ لاس نه و. هغه لکه د یوه بندي په شان د ارګ د څلورو دیوالونو دننه ژوند کاوه. هغه یواځینی توپیر، چې د شاه شجاع او ظاهرشاه تر منځ و هغه دا و، چې شاه شجاع د مکناټن په لاس کې اسیر و او ظاهرشاه د خپلو ترونو محمدهاشم خان او شاه محمود خان په لاسونو کې اسیر و، په تېره بیا هغه مهال، چې دوه نور نوي شهزادګان (محمد داود او محمدنعیم) هم د محمدهاشم خان له خوا د پاچا په وړاندې رامنځته شول.

د ځوان پاچا دغه اعزازي حبس او هغه ګواښ چې د دوو ترونو او دوو ترو زامنو (ترېرونو) له خوا دده شخصیت ته متوجه و، د هغه لپاره یې یو شمېر ګرومونه او عقدې رامنځته کړې، چې د دغو څوارلس کلنو عقدو غبرګونونه وروسته بیا څرګند شول.

پاچا له ۱۹ کلنۍ څخه تر ۳۳ کلنۍ پورې د دغه ډول عواملو تر اغېزې لاندې و. دغه د تحکم (امر کولو او قیم (تر نظر لاندې والي) اسارت ده ته ګرومونه پیدا کړل، چې هغه یې دوکه کولو او دسیسه جوړولو ته اړ کړ. له بلې خوا په ګوښه کې د هغه د ژوند تېرېدل او د بیکارۍ دروندوالي او د دغه ځوان بې تکلیفي هغه د عیاشي خوا ته وهڅاوه، سره له دې چې دغو شرایطو نوموړي ته د نورو بېلا بېلو مطالعاتو فرصت هم په لاس کې ورکړ. له دې ټولو سره سره دغه ټول عوامل ددې لامل شول، چې هغه وخت چې ده د چارواك ترلاسه کړ، نو ویې ښودل چې اراده یې ضعیفه او چلند یې ریاکارانه او له توطیې څخه ډك و. هېڅ شك نشته، چې دده دغه ځانګړتیاوې د افغانستان او د افغانستان د یوه پاچا په ګټه نه وې، خو له دې امله چې د بنیادم د شخصیت په جوړښت کې روزنه ډېره اغېزه لري، نو ځکه د پاچا ددغو نیمګړتیاوو اصلي مسئولیت د هغه د لومړني او اجباري مربي (محمدهاشم خان) یعنې دده د تره په غاړه و. په دې توګه مونږ ویلای شو، چې محمدهاشم خان د ظاهرشاه د سلطنت د دورې د فجایعو (قابیل) و.

د ۱۳۱۲ل کال د لړم شپاړسمه (۱۹۳۳م.) باندې نادرشاه ووژل شو، بې له ځنډه په هماغه ورځ مازیګر باندې د پلازمېنې (کابل) د پوځ د توپونو په ډزو سره د هغه د زوی ظاهرشاه سلطنت اعلان شو. دامهال صدراعظم محمدهاشم خان د افغانستان د شمالي ولایتونو په کتنه بوخت و، کله چې د پاچا له وژل کېدو څخه خبر او د هغه د زوی د سلطنت له ټینګېدو څخه ډاډه شو، کابل ته راغی او د حرب له وزیر شاه محمود څخه یې د چارو واك ترلاسه کړ. نوي پاچا د یوه فرمان په ترڅ کې د لړم په ۲۷ نېټه، هاشم خان یوځل بیا د نوې کابینې په ټاکل وګومارل شو. هغه د لړم په ۲۹ نېټه د پوځ د سپاهیانو په میاشتني معاش کې دوه افغانۍ د وړو ضابطانو په معاش کې یې درې روپۍ، د ټولي مشرانو په معاش کې یې څلور روپۍ زیاتوالی راوست او هر افسر ته یې بهادري ورکړه. په دې توګه یې د پوځ زړونه خپل کړل. د لړم په ۳۰مه نېټه یې کابینه په دې توګه جوړه کړه: د حرب وزیر دده ورور شاه محمود خان، د کورنیو چارو وزیر محمدګل خان مهمند، د بهرنیو چارو وزیر سردار فیض محمد خان زکریا- د ټولګټو چارو وزیر هندي الله نوازخان، د پوهنې وزیر سردار احمدعلیخان چې نوموړی د پاچا د کورنۍ غړي او خپلوان و، عدلیه وزیر د روحانیونو استازی فضل احمد خان مجددي، د سوداګرۍ وزیر مرزا محمدخان یفتلي، طبیه خپلواك رییس سردار محمد اکبرخان او د مخابراتو خپلواك رییس رحیم الله خان زرګر.

د لیندۍ په څلورمه نېټه د نوي سلطنت کړنلاره د پاچا په لاسلیك سره د اصلاح د ورځپاڼې په ۹۵مه

Scanned by CamScanner

کڼه کې په دې توګه خپره شوه:

زمونږ د نوي حکومت کړنلاره د سپېڅلي شریعت مقررات او د محمدصلی الله علیه و آله وسلم د مبین دین د اوامرو دود کول دي، چې زمونږ د مرحوم پلار شهید اعلیحضرت له کړنلارې سره برابر دي او دالله(ج) په مرسته به زمونږ ګران اسلامي هېواد کې په همدې بنسټ ټولې چارې پر مخ ځي. همداسې هم د هېواد د بهرنیو چارو سیاست د شهید اعلیحضرت د سلطنت د دورې له تړونونو سره سم پر مخ ځي او له ژمنه شویو هېوادونو سره به هماغسې دوام مومي.

په دغه کړنلاره کې د اساسي قانون یو نوم هم نه و اخیستل شوی، ګواکې سلطنت د دغې کړنلارې په اعلانولو سره د افغانستان خلکو ته په سپین سترګۍ سره یو چیلنج ورکړ او د افغانستان د وطنپالو ټولې هغه مبارزې او ځاني سربښندنې یې په پام کې ونه نیولې، چې همدغه ټکی د بریتانیا د ښکېلاکګر چلند په پل باندې پل کېښودل و، چې د بېلګې په توګه هغوی په پوره سپین سترګۍ او کلکې سرتمبګۍ سره د هندوستان د خپلواکۍ غوښتونکو په وړاندې دغه چلند وکړ. هغه توپیر، چې د دې دوو تر منځ و، هغه دا و چې د افغانستان سلطنت د افغانستان له خلکو وېرېده، نو ځکه په همداسې حال کې یې چې خپله دښمني د پخواني استبدادي چلند په دوام د خلکو په وړاندې بې بدلونه وساتله، خو په معنوي توګه وېرېدل او خایف و. له همدې امله یې ځان نور هم د اردو غړېو ته وسپاره او له ځمکوالو او یو شمېر ملایانو سره یې ځان نږدې کړ او له ښکېلاک سره یې هم اړیکې زیاتې شوې، په کورنۍ اداره کې یې هم دوکه کول غوره کړل. خو کوچني دړواغجن ریفورمونه یې په ډېر ځنډ له متضادو توطیو سره یو ځای ترلاسه لاندې ونیول. خو له دغه نوي چلند څخه مخکې یې لومړی د هېواد مبارزو ځوانانو، په تېره روڼ اندو ته په وینو لړلې لاس ور وښود.

## دوهم

## ډله ییزې وژنې

د نادرشاه تر وژل کېدو او د عبدالخالق تر بندي کېدو وروسته کله، چې د کابل پوځ د واکمنې کورنۍ تر شا ودرېد، د ظاهرشاه سلطنت اعلام شو او د حرب وزیرشاه محمود د صدراعظم محمدهاشم خان تر رارسېدو پورې د چارو واک په خپل لاس کې ونیو، د هغه د مشاورینو ډله په دې توګه وه:

الله نواز هندوستانی، د بهرنیو چارو وزیر فیض محمد خان زکریا او د ضبط احوالات رییس مرزا محمدشاه. ددغه هیئت مخکښان د ارګ قلعه بیګي عبدالغني او د کوتوالي قومندان طره باز و، پخوانی نظامي حکومت اوس په یوه جنګي او جلاد حکومت بدل شو. ټول کابل د حکومت د ګواښ او وېرولو په تیاره کې ډوب شو. کله چې محمدهاشم خان کابل ته راورسېد، شاه محمود خان له نورو اداري چارو څخه وزګار او ټول پام یې نظامي خوا ته واړاوه، تر دې مهال پورې هغه په لسګونو روڼ اندي زندان ته اچولي وو او د ارګ د ختیزې دروازې پورتنې پوړ کې یې یوه وېروونکې خونه د کړاو ورکولو او شکنجې لپاره جوړه کړه. په دغه کوټه کې به هره شپه افغاني ځوانان له زنځیرونو، ولچك او زولانو

سره راوستل کېدل او لکه د لرغوني اسپانیا د مرتدانو په شان به تر راز راز سزا او کړاوونو لاندې راتلل. د کړاو وسایل په لومړنۍ کوټه کې ایښي وو، چې تورن به د خپل راتګ سره سم هغه لیدل او بیا به دوهمې کوټې ته رارسېد. د شکنجې په کوټه کې د وهلو لرګي، میخونه، رسۍ، څټک، قین او فانه د تیلداغ وسایل، د وسپنې مردکۍ، چې د لرګیو لاستي یې لرل، د اور نغري او داسې نور پراته وو. د کړاو ورکولو جلادان له قلعه بیګي عبدالغني خان کوتوال طره باز خان او وسله والو سپاهیانو سره هلته ولاړ وو. په دوهمه کوټه کې چې په یوې پرانیستې دروازې سره له لومړۍ کوټې سره نښتې وه، یو مستطیل ډوله لوی میز ددې کوټې منځ کې ایښی و. په هغه باندې راز راز میوې او خوراکونه وو. بر سر کې شاه محمود خان د سپه سالار له نظامي دریشۍ سره او د هغه دوو خواوو ته الله نواز خان هندوستاني، فیض محمد خان زکریا او د ضبط احوالات رییس مرزا محمدشاه خان ناست وو، د اړتیا پر مهال به قاضي او شاهدان هم راغوښتل کېدل. هغوی به د تورن اجباري قرار او اعتراف ته غوږ نیو یا به لوستل او د دروغو جوړو شویو شاهدانو شهادت به یې اورېد. دا ځکه چې دا ځل حکومت اړ شوی و، چې په خپله سلاخي کې د شریعت تر څادر لاندې د قاضي فتوا واخلي او په خپلوو‌ژنو کې ځان سره د جعلي محکمې مجلس هم په مسئولیت کې ورګډ کړي، دا ځکه چې په یوا ځیتوب سره د روڼ اندو له کسات اخیستو څخه ویرېدلي وو.

دغه سلاخ ځای ته به یې، چې هر تورن راوست، لومړی به یې وړی وساته. بیا به یې د شکنجې له کوټې څخه ورتیر او د تحقیق کوټې ته به یې ننویست. په زنځیر تړلي تورن څخه به لومړی شاه محمود خان او د غونډې نورو حاضرینو پوښتنې کولې که تورن به اقرار ونه کړ، هغه به یې د شکنجې کوټې ته بېرته ور وګرځاوه او تر شکنجې لاندې به یې کړ، البته د شکنجې پر مهال به یې د تحقیق د کوټې وروںه وتړل تر څو د شکنجې منظره او د قتل وسایل ونهویني. الله نواز به د شاهد په توګه ټول جریانات په چوپه خوله کتل او له نورو سره به یې څه خبره نه کوله، خو یوازې له فیض محمد خان زکریا سره به غږېده او هغه سره به یې پرله پسې ټوکې-ټکالې کولې.

د شکنجې څرنګوالی د هر تورن لپاره جلا جلا و، ځینو ته به یې سره کړي مردکي تر تخرګ لاندې کېښودل، چې د سوځېدلې غوښې ستوغ بوي به پورته شو. د ځینو پښې به یې په رسۍ تړلې او د ګوتو تر منځ به یې فانه ټکوهله او د پښو ګوتې به چورې چورې شوې، د ځینو ډډې به یې لوڅې کړې او په دیبو (هندي بیت یا لنډکي کوتکونو) به یې وهل، د بل په لوڅو ورنو به یې ایشیدلي سره تیل ورتوی کړل، بیا په کټ کې یاد سپاهیانو په شا بېرته زندان ته واستول او بیا به هندوستاني طبیبانو د هغوی درملنه کوله، تر څو له استنطاق او اعدام څخه مخکې مړ نه شي. کله به چې ددغو کړول شویو بندیانو ټپونه لږ مخ په ښه کېدو شول، بیا به راوغوښتل شول او پوښتنې به ورڅخه کېدې، که به یې بیا د سپه سالار له خوښې سره سم ځوابونه نه ویل د شکنجې کوټې ته به استول کېده او هماغه سزا او کړول به بیا پیل شول.

د سلطنتي آمفي تیا تر دغه ننداره تر څلوېښتو ورځو روانه وه. په دې موده کې یې عبدالخالق دومړه

وکړاوه، چې ورنونه یې وشړېدل او له تګ او ګرځېدو څخه ولوید، خو بیا هم هغه د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې خپل یو ملګری هم افشا نه کړ. او ویل به یې، چې ما په یوائیتوب سره د نادرشاه د وژلو تکل کړی و او مړ مې کړ. کله به یې چې د هغه ملګری تر شکنجې لاندې کړل، هغوی به هم یو نیم د خپلو ملګرو د نومو له اخیستو ډډه کوله. یو تن محمداسحق خان وویل ماته تورله نقشه معلومه ده، که څېرې ماله عبدالخالق سره مخامخ کړئ، تورله به ووایم. شاه محمود خان عبدالخالق په کټ کې راوغوښت. کله یې چې عبدالخالق راورساوه، د هغه تېپي شوي ملګري تېپي عبدالخالق ته وکتل او په خپګان سره یې ورته وویل:

ای ناځوانه ملګریه! ولې دې پر ما او نورو اندېوالانو باور ونه کړ. او خپل هوډ دې پټ ساتلی و؟ که داسې دې نه وای کړي اوس به ددې حکومت یو تن هم ژوندی نه و پاتې. خپله وروستۍ خبره مې درته وکړه خدای پامان، عبدالخالق ځواب ورکړ: "ملګریه رښتیا وایې! زما احتیاط بې ځایه و، له تا څخه بخښنه غواړم."

ددغې ځوانمرده صحنې په لیدو سره د تحقیق د هیئت رنګ والوت، دا ځکه چې دوی د ټولو خلکو په هکله د ځان په شان فکر کاوه او هغوی یې د خپل سپک نفس په هېنداره کې کتل، دوی شهادت او مېړانه نه پېژندله. هېڅ شک نشته، چې که څېرې ددغه وحشیانه کړاو ډېره لړه برخه هم په خپله شاه محمود خان باندې او یا هم د هغه په ملګرو تطبیق شوی وای. په خپلو ناکړیو ګناهونو به یې هم اقرار کړی وای، په دغه ډول یوه تحقیقاتي غونډه کې شاه محمود خان له یو تورن زلمي څخه وپوښتل:

"ما اورېدلي دي، چې پر موږ باندې مو نومونه اېښي دي، دا سمه ده؟"

تورن ځواب ورکړ:

"هو! نه یوائې پر تا باندې، بلکې په پاچا، صدراعظم او ستاسې په نورو مو هم نومونه اېښي دي. که وایې چې ویې وایم."

خو فیض محمدزکریا وخت ورنه کړ، چې دغه ډېر سم اېښودل شوي نومونه یاد کړي.

کله چې د پوهنې وزارت له مرستیال (میرسیدقاسم خان) څخه پوښتنه وشوه: "تاسې چې د یوه وزارت معین واست، د ښوونځیو د زده کوونکو له چلند او افکارو څخه ولې خبر نه شوی، چې هغوی غوښتل پاچا ووژني؟"

میر صاحب ځواب ورکړ:

"دغه سلطنت لکه د هغه سقاو په شان دی، چې ژی (خیګ) یې په یو کولو سره له هوا څخه ډک شوی او خوله یې ورګنډلې ده، څوک چې ورباندې کښېني، په هغه باندې دومره زور راولي، چې درز وچوي. دا پښنه ستاسې د خپلو عملونو پایله ده، که عبدالخال دا کار نه وی کړی، کوم بل چا دا کار کاوه، په راتلونکي کې به بیا دا کار وشي."

په هغه محبس کې، چې زه وم، له هغه څخه یې هم څو تنه د کړاو ورکولو دغه ځای ته په خپلو پښو ور وستل او څه ځنډ وروسته یې د سپاهیانو په شا بېرته راوړل، په دوی کې یو هم د محمد اسحق خان په نوم هغه ځوان و، چې پښې یې ورته په فانه له کاره غورځولې وې. دغه ځوان ډېر کلونه په زندان کې پاتې

Scanned by CamScanner

شو، هلته يې تول غابښونه ولوېدل او بوډا شو. بل يو سعدالدين خان بها و، چې تخرګونه يې ور سوځولي وو. بل درېيم ځوان عبدالفتاح خان و، چې د موتي سرای له زندان څخه يې بيولی و، خو هغه بېرته راستون نه شو، داسې ويل کېدل، چې هغه په يو بل محبس کې مړ شو. يو بل زلمکی، چې محمدزمان نوميده او ولس کاله عمر يې و، چې لا يې بريت او ږيره نه وه راغلې او د موتي په زندان کې يې لاهم د زلميتوب موسکا پر شونډو وه. دغه بې پروا هلك يې هم بوت، چې وروسته تر ډېر کړاو او فشارونو څخه يې لکه د چنچنې په شان په دار وځړاوه.

په پای کې يې يوه مياشت وروسته د اصلاح د اخبار د لينديء په ۱۰۴مې ګڼې کې وليکل، چې: د عبدالخالق او د هغه د ملګرو لومړني تحقيقات پوليسو بشپړ کړل او په نږدې وخت کې به عدليه محکمې ته وسپارل شي.

همدغې ورځپاڼې اضافه کړل: د عبدالخالق د تحقيقاتو په ترڅ کې پوليسو د حکومت په خلاف د يو شمېر نشرياتو سرچينې هم وموندلې او د هغو عاملين يې ونيول او د مضره نشرياتو ناشرينو هم وروسته تر څېړنو او تحقيقاتو څخه په خپل جرم باندې اقرار وکړ.

دې پسې وروسته برهان الدين خان کشککي د لينديء د ۲۲مې نېټې په ۱۱۴ ګڼه کې د (محکوميت مفسدين) تر عنوان لاندې وليکل: مير عزيز، مير مسجدي، محمود، محمدزمان، امير محمد او مرزا محمد د عدليې وزارت په محکمه کې په اعدام باندې محکوم شول، چې د جرم د اثبات مدعي يې د ارګ قلعه بيګي (فرقه مشر عبدالغني خان) و. برها الدين خان په همدغه ګڼه کې د (اجرای امر اعدام) تر عنوان لاندې وليکل:

د عبدالخالق جنايت کار او نورو شق ګرو د اعدام پرېکړه چې پخوا د ابتداييه مرافعه او تميز محکمو له لوري صادره شوې وه، د پاچا له لوري لاسليك او نن عملي کېږي، خو حکومت د اعدام د امر له اجرا کولو د کابينې له لوري د وزيرانو، نظامي افسرانو (د کنډکمشر تر رتبې) رييسانو، ملکي مامورينو، د شورا د غړو، جمعيت العلماء کلانترانو او د کابل ښار د مخورو په ګډون د زرو کسانو څخه جوړه شوې، يوه غونډه د صدارت عظمیٰ د ماڼۍ په ډګر کې جوړوي او د محکومينو قضيه پکې څېړي، ددغې غونډې رييسان به صدراعظم محمدهاشم خان او د حرب وزير شاه محمود خان وي او د جرم د اثبات مدعيان به د اردو رييس احمدعلي خان لودين، د عدليې وزير فضل احمد خان مجددي، قلعه بيګي عبدالغني خان ګرديزي، نايب سالار سربلند خان ځاځي فرقه مشر اصيل خان، پکتياوال فرقه مشر سرکی خان، نايب سالار محمدغوث خان، او فرقه مشر عبدالله خان طوطاخېل وو.

د بهرنيو چارو وزير فيض محمدخان زکريا او د سوداګرۍ وزير مرزا محمدخان يفتلي د منځګړو په خانته غوره کړې وه. صدراعظم هڅه کوله، چې ځان د شاه محمود خان په پرتله ناپيېلي او رحم لرونکی وښيي او غوښتل يې چې د دولت په لاس دغه وينه تويول ددغې لويې غونډې د ګډون کوونکو قضاوت او د شرعي محکمې تر فتوا لاندې پټه کړي.

د غونډې غړي لکه د تياتر د صحنې په شان په کتارونو کې يو په بل پسې ناست وو. مخکيني کتارونه

درباریانو، لویو مامورینو، لوړ رتبه افسرانو او د سلطنت ملاتړو او ګومارل شویو کسانو ته خانګړې شوي وو، ټول بحثونه فقط په همدغو کتارونو کې وو، منځني او شا خوا ته کتارونه چې په هغوی کې د ښار مخور او کلانتران ناست وو آن د مخکیني کتار خبرې نه اورېدې او نه پوهېدل، چې څه دي. دوی د تحقیقاتو د پاڼو لوستل هم وانه ورېدل، نو ځکه ټول غلي ناست وو. صدراعظم محمدهاشم خان پاڅېد او ویې ویل: حربیه وزیرصاحب شاه محمود خان چې د شهیداعلیحضرت د قاتلینو د تحقیق د هیئت مشرتوب په غاړه درلود. دادی اوس تاسې ته د ټولو پېښو تفصیل بیانوي او د وژلو وړ او ژوندي پرېښودلو وړ کسان درته وایي تر څو ستاسې نظر هم څرګند شي.

دې پسې شاه محمود خان پاڅېد او ویې ویل:

شرعي محکمو د شهید پاچا قاتلین محاکمه کړي مونږ د هغو تفصیل تاسې ته لولو او ستاسې نظر غواړو.

وروسته تر هغه څخه د شورا رییس عبدالاحدخان ماهیار پاڅېد، او د تحقیق د هیئت د نظر لنډیز او د شرعي محکمې پرېکړه یې په درېو پاڼو کې ولوستله د تحقیق د هیئت دغه نظر او د شرعي محکمې دا پرېکړه، په دې خاطر یو بل سره ګډ شوي وو، چې شرعي محکمې یوازې دوه تنه په اعدام او دوه تنه په دوام حبس باندې محکوم کړي وو او بس، خو حکومت غوښتل چې یو زیات شمېر کسان اعدام کړي، نو ځکه یې د شاه محمود خان د تحقیقاتو د پاڼو او یو شمېر تالي څښو د نظرونو اورېدلو ته لاس واچاوه.
ددغو شکنجه یې تحقیق پاڼو له مخې باید لاندیني کسان وژل شوي وای:

د نادرشاه وژونکی عبدالخالق خان، د عبدالخالق خان مرستیال محمود خان، محمدزمان خان کابلی، محمود خان کابلی، مرزا محمد خان کابلی، محمد اسحق خان شیردل، محمداسحق خان هزاره، مولاداد خان هزاره، خداداد خان هزاره، قربان علي خان هزاره، مصطفی خان څرخي، عبداللطیف خان څرخي، رباني خان څرخي، غندمشر علي اکبر خان، عزیز خان توخي، عبدالله خان کابلی، د نجات د لیسې مرستیال محمدایوب خان، دوهم محمدزمان خان، د برېښنا شرکت، رییس اعظم خواجه، میرمسجدي خان، میرعزیزخان، امیرمحمدخان او د پوهنې د وزارت مرستیال میرسید قاسم خان.

د پورتنیو نومونو له لوستلو څخه وروسته یوازې یو تن زړور قاضي د ننګرهار با ایمانه ملا عبدالملک خان پاڅېد ویې ویل:

د اسلام د شریعت له حکم سره سم یوازې قاتل او د هغه مرستیال د اعدام وړ دي او بس.

فرقه مشر عبدالله خان طوطاخېل ددغه قاضي په وړاندې پاڅېد او ویې ویل:

کله چې د درېځلو خلکو پاڅون وکړ، ښځې او نر یې ووژل شول، اوس هم باید مخکې ذکر شوي کسان د کابل ښار له کلانترانو سره یو ځای ووژل شي، دا ځکه چې له توطې څخه خبر وو، خو حکومت ته یې خبر نه دی ورکړی.

شاه محمود خان وویل: مونږ د شپې د ګڼ شمېر تحقیقاتو په پایله کې د دوو تنو بندیانو محمد عزیز توخي او محمد اسحق هزاره په مرسته دا معلومه کړه، چې د غلام نبي او عبدالخالق کورنۍ په دې

Scanned by CamScanner

اقدام کې یو موټی شوې وې، نو ځکه دوی ټول د قتل وړ دي، خو یواځې غریز توخي او اسحق هزاره سره له دې، چې په اعدام محکوم دي، خو باید ونه وژل شي ،دا ځکه چې مونږ سره یې د قرآن قسم کړی دی.
دا مهال د حکومت د خلکو تر منځ یو "د زرګرۍ جنګ" شروع شو.
محمدهاشم خان وویل: "ستاسې له خوا د قرآن یو شخصي قسم مطرح نه دی باید لومړی همدا دوه ووژل شي، چې له توطئه کوونکو سره یې لاس درلود او له تاسې سره یې هم سر خوځولی دی."
د غونډې لومړی کتار د صدراعظم په پلویتوب غږونه اوچت کړل او ویې ویل: ټول دې ووژل شي.
خو شاه محمودخان ټینګار کاوه، چې باید غریزخان او اسحق خان ژوندي پاتې شي. په پای کې صدراعظم وویل: عمري بند. دحکومت ګوډاګیانو له لومړي کتار څخه غږونه اوچت کړل: ټول دې ووژل شي، خو وروستي کتارونو خپله کرکه وښوده، په دې منځ کې فیض محمد خان زکریا وویل: "مونږ د میرسید قاسم په هکله سند نه لرلو. سره له دې چې جنایت له معارف څخه راپورته شوی، میر سره کومه اړیکه نه لري. هغه مهال، چې زه هم د پوهنې وزیر وم، خو د معارف اړوند د یوه تن د حرکت مسئولیت زما په غاړه نه و." شاه محمود خان وویل: "سره له دې، چې د میر په هکله کوم قوي سند نه لرو، خو له دې امله چې محکمې حکم کړی، نو ځکه باید اعدام شي."
د اردو رییس احمدعلیخان، د عدلیې وزیر فیض احمدخان مجددي، سربلندخان، اصیل خان او سرکی خان (د پکتیا جنرالان) او قلعه بیګي عبدالغني خان ګردیزي ودرېدل او په کلکه سره یې د میرسیدقاسم خان د اعدام غوښتنه وکړه.
دې پسې وروسته نایب سالار محمدغوث خان بارکزایي او د جمعیت العلماء یو تن غړي ملا (نوم یې معلوم نه شو) غږونه وکړل: "په اصل کې باید همدا میر ووژل شي، چې د ښوونځي زده کوونکي یې نه دي اداره کړي،نه یواځې میرقاسم بلکې یو شمېر نور هم شته، چې ووژل شي."
تر دې وخت پورې هېڅوک هم نه پوهېدل، چې دا څو تنه نور څوک دي؟ د شورا رییس عبدالاحدخان ماهیار او قلعه بیګي عبدالعلی خان او محمد غوث خان نایب سالار په بیړه کتارونو ته ننوتل او هر یو یې هڅاوه، چې ددغو څلورو نامعلومو کسانو د اعدام په هکله رایه ورکړي، حال دا چې ټولو یو بل څخه پوښتنه کوله، چې دوی به څوک وي؟ په غونډه کې شور- زوږ جوړ شو ، فیض محمدخان زکریا په منډه د صدارت د ودانۍ په زینو کې یو دوه پوړه پاس وخوت او غږ یې کړ:
"تاسې شور-زوږ مه جوړوئ زه په دغو څلور تنو کې یو یې پېژنم او په دې هم پوهېږم، چې هغه د ختنا جامو په اغوستلو او جومات ته په تللو سره څوک نه شي غولالی (موخه یې عبدالهادي داوي و)، ممکن هغه په ځینو دسیسو کې لاس ولري، خو د وژلو وړ نه دی دا ، ځکه چې مونږ د پاچا د وژلو کېدو په موضوع باندې خبرې کوو، خو هغه او هغه ته ورته نور کسان په دې پېښه کې لاس نه لري. امان الله خان غلط کار وکړ، چې د یوه سید وینې یې ناحقه تویې کړې (موخه یې شاعره علیرضا خان کنډکمشر و) او خپله سزا یې هم ولیده. زه نه غواړم، چې زمونږ ځوان اعلیحضرت د خپل سلطنت په پیل کې د بېګناه د وینو په تویولو لاس پورې کړي، په تېره بیا چې په دې څلورو تنو کې یو سید هم شته."

Scanned by CamScanner

لږ وروسته بیا قلعه بیګي عبدالغني خان د شورا غړي فرقه مشر فتح محمد خان د پوښتنې په ځواب کې ددغو درې تنو نومونه په دې توګه یاد کړل: محمدانورخان بسمل، مـ غلام محمد غبار او سرور خان جویا. بسمل لکه د داوي په شان د ارګ په زندان کې او زه او جویا دواړه د موتي د سرای په زندیان کې لا پخوا څخه بندیان وو. د عدلیې وزیر فضل احمدخان مجددي د عدلیې د وزیر په ځواب کې وویل:

"که دوی د پاچا د وژلو په تور نه اعدامېږي، باید د دهریت په جرم اعدام شي."

صدراعظم وویل: "حضرت صاحب، یواځې تاسې په دې عقیده یاست او که کوم بل څوک هم همداسې وایي؟"

مجددي وویل: "ما په خپلو غوږو د هغوی د دهریت عقیده اورېدلې ده او شاهد هم لرم."

فیض محمد زکریا وویل: "هېڅوک د عبدالهادي خان د کفر او د هریت په هکله حکم نشي کولای که چېرې تاسې کوم شاهد لرئ، نو را دې شي."

مجددي ډېر ژر د تمیز د محکمې رییس مولوي عبدالرب خان تره کي او د جمعیت العلماء غړی مولوي محمد محمدابراهیم کاموي راوغوښتل او ویې ویل: "تاسې د میرسیدقاسم خان د دهریت په هکله خپل اورېدلي او د سترګو لیدلی حال روایاست."

ملا عبدالرب خان ځواب ورکړ: "یوه ورځ زه او مولوي کاموي د میر لیدلو ته ورغلي وو، میر د خبرو په ترخ کې وویل، چې قرآن د خدای کلام نه دی، هغه محمد په خپله ویلي دي."

فیض محمد خان زکریا وویل: "نه ممکن سیدقاسم به ویلي وي، خو تاسې له نورو څخه هم همدا خبره اورېدلې ده." دواړو وویل، چې نه!

مرزا محمد خان یفتلي وویل: "باید د پاچا د شهادت، دهریت، توطئې او تبلیغ پېښې ټولې سره ګډې نه کړو، تر څو په سنجول شوې توګه رایه ورکړو."

قلعه بیګي عبدالغني خان او د اردو رییس احمدعلیخان او نایب سالار محمدغوث خان یو ځای غږ وکړ، چې "وزیر صاحب تاسې هم د همدې ډلې یاست او باید له هغوی سره یو ځای اعدام شئ."

عبدالله خان طوطاخېل غږ وکړ: "که قراین په پام کې نیسو، نو موږ او تاسې ټول ګنهکار یاستو که نه یو څو هلکان نه بریالي کېدل، اوس پرېږدئ، چې څرنګه والا حضرت تحقیقات کړي دي، هغسې اجرات به وشي، موږ د سید قاسم د شفاعت مخ نه لرو، دا ځکه چې هغه تر خپل لاس لاندې کسان سم نه دي اداره کړي."

فیض محمد زکریا یو ځل بیا ټینګار وکړ، چې: "که چېرې میرسیدقاسم د خپل لاس لاندې یو تن په ګناه وژل کېږي، نو ما هم د وزارت د څو تنو مامورینو په ګناه ووژنئ، چې جرمونه یې کړي دي. لااله الاالله محمدرسول الله."

د اردو رییس احمد علي خان، محمد غوث نایب سالار، قلعه بیګي عبدالغني خان او نایب سالار سربلند خان په فیض محمد خان زکریا باندې ورټول شول، احمدعلي خان تر نورو مخکې هغه له غاړې ونیو او ښکته یې راکش کړ او ورته ویې ویل:

Scanned by CamScanner

"ته هم خاین یې او باید ووژل شې."
صدراعظم رامخته شو او احمدعلي خان ته یې وویل: "د اردو رییس صاحب! یو څه برید وساتئ."
بیا یې په خپله د فیض محمد خان جامې ورسمې کړې ویې ویل: "دا ټول هغه پاك احساسات دي، چې را برسېره کېږي، پروانه کوي."
البته حکومت لا د مخه خان سره یو شمېر پرېکړې کړې وې، دا شور-زوږ جوړول هسې د افغانستان له اردو او نظامي افسرانو څخه د خلکو د وېرولو لپاره جوړ شوی و، په ضمن کې دوی غوښتل، چې سلطنتي کورنۍ د روحانیونو، افسرانو او د دولت د لوړ رتبه مامورینو په پرتله د روڼ اندو په وړاندې له خواخوږۍ ډك او صبر کوونکي ښکاره کړي، ددغو خبرو-اترو په ترڅ کې د حکومت اصلي پرېکړه په دریو پاڼو کې د ناستو خلکو په لیکو کې د لاسلیکونو د اخیستلو په موخه وګرځول شوه. په دغې پرېکړې کې لاندې درې خبرې راغلې وې:
لومړی: د لاندنیو شپاړسو تنو اعدام کول: د نادرشاه وژونکی عبدالخالق، د عبدالخالق خان مرستیال محمودخان، د عبدالخالق پلار خداداد خان هزاره، د عبدالخالق تره مولاداد خان هزاره، د عبدالخالق خان ماما قربان علي خان هزاره، وروسته بیا ویل کېدل، چې د عبدالخالق مور، ترور او کوچنی خورد بادام سرای په زنانه زندان کې د درملنې په نوم له منځه یووړل شول او مړي یې بیا د شپې له خوا په شهدای صالحین کې په نامعلومه قبرونو کې خښ کړل شول، په دې توګه د هغه ټوله کورنۍ له منځه ولاړه. د زده کوونکي محمودخان (د عبدالخالق د مرستیال) تره غونډمشر علي اکبر خان، د څرخي د کورنۍ زامن غلام رباني څرخي، مصطفی خان او عبداللطیف خان څرخي، د نجات لیسې (هغه ښوونځی، چې عبدالخالق پکې زده کوونکی و) اداري مرستیال محمدایوب خان، میر عزیزخان، میرمسجدي خان، دوهم بل محمودخان، محمدزمان خان، د شپې پاڼو خپروونکی مرزا احمدخان او امیر محمدخان دوهم).
له اعدام څخه عفو شوي هغه کسان، چې په حبس محکوم شول: محمد اسحق خان شیردل، عبدالله خان ولد عطامحمدخان، اعظم خواجه خان، میرسید قاسم خان، عبدالهادي داوي (او ده سره درې تنه نور محمد انور بسمل، میرغلام محمد غبار او سرور جویا). حکومت په خپله دوه تنه تسلیم شوي بندیان هم له اعدام څخه معاف کړل او هغه یې په بند کې وساتل، چې نومونه یې محمداسحق خان هزاره او محمد عزیزخان توخي و.
دریېم: حکومت پرېکړه کړې وه، چې په راتلونکي کې به هېڅوك هم په سیاسي جرم نه اعدامېږي، البته سیاسي مجرمین به په بند کې ساتل کېږي، چې د هغوی بخښنه یوازې د پاچا واك دی.
دغه درېیمه پرېکړه د افغانستان د روڼ اندو د مبارزې یوه سیده پایله او په تېره بیا د شهید عبدالخالق خان د سربښندنې او ګولۍ حاصل و، چې د هېواد په سلګونو وطنپال ځوانان یې د راتلونکي پلان شوې او حتمي مرګونو او وژنو څخه وژغورل، دا ځکه چې حکومت داوېره لرله، چې د ترور په دوام سره به د نادرې سلطنتې کورنۍ غړي ټول له منځه ولاړ شي.

د حکومت د پرېکړې دغه درې پانې د افسرانو، لوړ رتبه مامورینو، د شورا د غړو او د علماوو د ټولنې د غړو په لومړیو کتارونو وګرځول شوې او لاسلیکونه راټول شول. په وروستیو کتارونو کې، چې د کابل مخور او کلانتران ناست وو، چوپتیا خوره وه او ټولو په کرکې سره همدا د مخې کتارونو ته کتل.
په همدې وخت کې د صدارت پیشغد متان راغلل او د غرمې د ډوډۍ د چمتوالي خبر یې ورکړ. په دې توګه غونډه پای ته ورسېده، مخور، کلانتران او ټیټ رتبه مامورین په بېړه ووتل او ډېر ژر یې له صدارت څخه په وتلو پیل وکړ تر څو د قصابي ددغې هټې له دروندوالي او د خپل ضمیر له ملامتي ځانونه خلاص کړي.
صدراعظم او شاه محمودخان له وزیرانو، لوړ رتبه افسرانو، د شورا له غړو او د علماوو له غړو سره د ډوډۍ د میزونو خوا ته ورغلل، ګوا کې کومه د پام وړ پېښه نه ده شوې.
شاه محمود خان د تګ پر مهال امر وکړ: "سرې ولېږئ چې وژل کېدونکي کسان دهمزنګ ته بوځي او اعدام یې کړي" په داسې حال کې، چې په دغه قتلګاه (وژنځای) کې لا د مخه خواشینوونکي ترتیبات نیول شوي وو او مخکې امر شوی و، چې څومره چې کېدای شي باید د ښار خلک ددغې خونړۍ پېښې لیدلو ته راوغوښتل شي. دا ددې لپاره، چې د پلازمینې د اوسېدونکو سترګې وسوځوي او دغه خبر په ټول افغانستان کې لکه د مرګ د ناقوس په شان انګازې وکړي.
قلعه بیګي عبدالغني خان د شاه محمودخان له څنګه راستون شو او د تیلیفون په واسطه یې د محکومینو د اعدام امر ورکړ. دا مهال فیض محمدخان زکریا د ډوډۍ د سالون په لاره ځان د شاه محمود پښو ته وغورځاوه او په ډېرو زاریو یې د میرسید قاسم خان د بخښنې او عفو کولو غوښتنه وکړه، خو شاه محمود خان په یوه مصنوعي حرکت د زکریا غوښتنه ونه منله او ویې ویل:
"زه واك نه لرم، صدراعظم صاحب هم د شهید اعلیحضرت ورور دی."
فیض محمدخان زکریا په بېړه وراندې شو او د صدراعظم پښې یې ونیولې او د میر عفوه کول یې وغوښتل. دا یې هم وویل: "که چېرې میر وژنئ، ما هم ووژنئ" صدراعظم شاه محمود ته مخ واړاوه، ویې ویل: "راځئ د وزیرصاحب عذر ومنئ، زما په نظر هم د یو تن سید په وینو باندې د سلطنت لړل مناسب نه ښکاري"
حال دا، چې صدراعظم په همدغې غونډه کې د دوو تنو سیدانو میر عزیزخان او میرمسجدي خان د اعدام پرېکړه لاسلیك کړې وه. په اصل کې د نادرشاه له وژل کېدو وروسته واکمنې کورنۍ د هېواد د روڼ اندو غچ اخیستو څخه په وېره کې شوي وو. نه یې شو کولای، چې د میرقاسم خان په شان یو اوچت اومنلی شخص او څو تنه نور ووژني، چې هغه وخت دغو کسانو د پوهنې په شاګردانو او روڼ اندو کې ډېر مینه وال لرل.
په هر حال، شاه محمودخان د فیض محمدخان زکریا او د خپل ورور غوښتنه ومنله د میر د اعدام د تعطیل (ځنډولو) امر یې په شفاهي توګه ورکړ.
بل خل بیا قلعه بیګي عبدالغني د ثاني امر لپاره ورمنډه کړه او یو ساعت له سترګو څخه ورك شو. په دې توګه له دغې پېښې څخه داسې ښکارېدل، چې د هېواد د چارو د اداره کولو واك او د خلکو وژل او

بخښل د دوو ورونو (محمدهاشم خان او شاه محمود خان) په لاس کې و، نور نو نه کوم پاچا و، نه کوم شریعت و او نه هم کوم قانون و.

د صدارت په میز باندې ډوډۍ خوړلو یو ساعت وخت ونیو. د میز په سر باندې ټولې خبرې عادي وې، حال دا، چې د وژل کېدونکو کسانو کاروان د سرنیزو او برچه لرونکو د دوو کتارونو په منځ کې له ارګ څخه د سیند په غاړه تر دهمزنګ پورې تر وژنځای پورې پلي روان شوی و او د هر یوه په پښو کې زولنې شرنګېدې. البته تورنو کسانو سره هېڅ د خبرې کولو اجازه نه لرله آن دا، چې د دوی د کورنۍ غړو هم ورسره کومه وروستۍ خبره ونه شوه کولای او نه هم د دوی وروستي وصیت ته چا غوږ ونیو.

د دغه تاریخي کاروان په پای کې میر قاسم خان هم ورو ورو روان و، سره له دې، چې حکومت هغه نه واژه او د هغه د اعدام د ځنډولو امر یې کړی و، خو غوښتل یې چې هغه د غرغرې رسۍ په سترګو باندې ووینې او د مرګ څخه وکړي. څو کلونه وروسته ما لیکوال د دغو لږ پېښېدونکو شېبو په هکله له میرصاحب څخه پوښتنه وکړه، هغه وویل: همدا چې د ارګ له زندان څخه ووتلو او د نورو تورنو په ډله کې د دهمزنګ د وژنځای لوري ته روان شولو، د کابل تر ماشین خانې (دهمزنګ د لارې تر نیمایي) پورې مې د مرګ په هکله فکر کاوه، د نورو فکرونو وخت راسره نه و، خو له هغه څخه وروسته یو آرام حالت را په برخه شو، ما داسې انګېرل، چې زمونږ دوو خوااوو ته د آسمایي او شیر دروازې د غرونو په سرونو کوچنۍ معصوم او خواره ماشومان ناست دي او زموږ کاروان ته ګوري. د غرغرې تر دار لاندې مې احساس ژوندی شو او له ژوند سره خدای پاماني ته چمتو شوم، په همدې وخت کې سلطنتي جلاد زما په اوږه لاس کېښود او راته ویې ویل:

"ته له وژلو څخه معاف شوی یې، د ارګ بندیخانې ته بېرته ستون شه".

د ۱۳۱۲ل. کال د لیندۍ په ۲۶مه (د ۱۹۳۳م. کال د دسمبر په ۱۸مه) مازیګر مهال دغه وژنې په ډېره ظالمانه بڼه د دهمزنګ په ډګر کې ترسره شوې. او د نادر د کورنۍ د سلطنت په نامه یې د افغانستان په معاصر (اوسني) تاریخ کې یو نوی څپرکی پرانیست. د غرغرې پر ډګر باندې ګڼ شمېر عسکر او وسله وال پولیس، افسران او د سلطنتي دربار وزیر سردار احمدشاه (د نادرشاه د تره زوی) د دربار مرستیال سردار محمد حیدر اعتمادي، د پاچا نظامي سرياور سیدشریف.

د پاچا ندیم حاجي نوابخان لوګری، د کوتوالي قومندان طره باز او د پولیسو یو شمېر مامورین راټول شوي وو.

په پیل کې د دربار وزیر سردار احمدشاه او بیا مرستیال او بیا حربي یاور سیدشریف خان، نیم ژواندي عبدالخالق را وړاندې کړ او پوښتنه یې ورڅخه وکړه:

"تا په کومه سترګه د پاچا ټټر په نښه کړ؟" بیا یې نو په تېره چاړه د هغه سترګه د سر له کاسې څخه راکښله. بیا یې ورڅخه وپوښتل:

"په کومه ګوته دې د تومانچې ماشه راکش کړه؟" او بیا یې د هغه ګوته ور پرې کړه. په دې توګه د اسلامي شریعت دغو ځان ښودنکو د بدن د ټوټه ټوټه کولو په بڼه وژنې دود کړې. عبدالخالق آخ هم ونه

Scanned by CamScanner

کړاو غلی ولاړ و. درباري ښاغلو امر وکړ او وسله وال عسکر رامخې ته شول او د ټوپکو په برچو باندې یې شکنجه شوی او کړاو ګاللی عبدالخالق لکه د غومبسې د ځالې په شان سوری سوری کړ او هغه نور مړ شوی و. د شهزاده احمد علي هندوستاني (هغه د دولت د رسمي کتونکو په ډله کې و) په وینا:

د عبدالخالق مړی په خاورو او وینو لژند پرېوتی و او په برچو وهلو یې هره خوا اړاوه را اړاوه. له هغه وروسته یې نور پېنځلس ځوانان په دار وځړول.

له دغې غمیزې څخه درې ورځې وروسته د اصلاح دولتي جرېدې د ۱۳۱۲ل. کال د لیندۍ د ۲۹مې نېټې په ۱۱۲ ګڼه کې د عبدالخالق د اقرارلیك په نوم یو جعلي سند خپور کړ، چې د اخلاقو مخالف له دروغو ډکو تورونو څخه جوړ شوی و، ددغه جعلي سند خپرول د افغانستان د واکمنې کورنۍ سیاسي اخلاق څرګند کړل، چې د هېواد په تاریخ کې ثبت شول. آیا انساني وجدان او شرافت ددې اجازه ورکوي، چې خپل دښمن په دغه ډول تقلبي او نامردانه وسلې سره وټکوي؟ د کابل خلکو د څرخي کورنۍ له نږدې څخه پېژندله او دوی کتل، چې عبدالخالق خان او کورنۍ یې لکه د دوی د زامنو په شان د څرخي په کورنۍ کې رالوی شول. عبدالخالق خان، چې خپل ماشومتوب په دغې کورنۍ کې تېر کړی و، د امان الله خان د سلطنت په وروستي کال باندې فقط دولس کلن ماشوم و، چې د لومړني ښوونځي په یو ټولګي کې زده کوونکی و. د غلام نبي خان څرخي د وژل کېدو پر مهال عبدالخالق خان ۱۲ کلن و او له هغه څخه وروسته د څرخي د کورنۍ ټول نارینه او ښځې د کابل د بادام سرای په زنانه زندان کې اچول شوي وو.

عبدالخالق خان د خپل مرګ تر وروستیو شېبو پورې هغوی یو هم ونه لیدل. حکومت دغه جعلي سند د عبدالخالق خان په ژوندوني نه، بلکې د هغه له مرګ څخه وروسته یې خپور کړ. دوی دغه ډول تقلب د محمد عظیم خان منشي زاده په هکله هم د هغه له مرګ څخه وروسته په کار یووړ. د کابل خلکو به له خان څخه پوښتنه کوله، چې که چېرې د حکومت دغه د دروغو تورونه ومنو او ووایو، چې عبدالخالق د یوې ښځې په مینه کې نادرشاه مړ کړ، آیا محمدعظیم منشي زاده هم د کومې ښځې په مینه کې د انګرېزانو په سفارت کې وسلې ته لاس ور وړ؟ او سید کمال خان هم د کومې ښځې په مینه کې د نادرشاه ورور په برلین کې مړ کړ؟ دغه ټولې شېې پاتې، چې د واکمنې کورنۍ د خیانتونو په هکله په هېواد کې خپرېږي آیا دا ټولې ښځو سره د مینې له امله دي؟ د واکمنې کورنۍ دغه تقلب او دسیسه یواځې محمدعظیم خان او عبدالخالق خان او د هېواد روڼ اندو سره یو خیانت نه دی، بلکې د افغانستان له تاریخ او د افغان ملت له هوښیارۍ او رشادت، مېړانې او زړورتوب سره خیانت کول دي. البته حکومت، چې د استعمار او ښکېلاك شاګرد و. د خپلو شخصي ګټو په خاطر یې هېڅ ډول اخلاقي پولې نه پېژندلې. آیا همدغه حکومت د افغانستان د خلکو یوه دېره ستره او ویاړلې پېښه، یعنې د هېواد د بشپړ سیاسي استقلال بېرته ګټل او د افغان او انګلس د دریېم جنګ اعلانول په خپل فرمایشي کتاب (نادر افغان) کې چې په ۱۳۱۰ل. کال کې په کابل کې هم چاپ شو، د یوه تن (امان الله خان) د سلطنت

غوښتنې حرص نه و بللی؟ هغه تغییر او تعبیر، چې د انګریزانو لیکوالو تحت اللفظي ژباړه وه. «وګورئ همدغه کتاب ۹۷ - ۹۸ مخونه»

عبدالخالق خان، چې په رڼا ورځ د ګارد او افسرانو تر مخې نادرشاه وویشت او خپل خان یې تسلیم کړ، نه په شکنجه یې تحقیقاتي پاڼو کې او نه یې هم د شرعي قاضیانو په وړاندې د خپل دغه عمل څخه انکار ونه کړ. هغه که څه ویلي یا یې لیکلي د نامردانه شکنجه کولو او د نه باور کولو کړاوونو له امله یې د تحقیق د هیئت د سوال او جواب په پاڼو کې ویلي او بیا یې یو اځې د قاضي تر مخې ویلي و، نه دا چې هغه په کوم بې عنوانه، بې پوښتنې کاغذ کې. حکومت له عبدالخالق څخه دا سوال او جواب او تحقیق پاڼې زنګوګرافي نه کړې، خو دغه یو جعلي سند یې د اعتباري کولو په خاطر یو شمېر تالي څو ملایانو ته ور واستاوه، خو بیا هم دغو ملایانو ددغه سند په څنډه کې یو اځې همدومره ولیکل، چې: "یوه پاڼه ملاحظه او په نښه شوه. عبدالرب، محمدالکریم، عبدالحی، نصرالله"

البته دغه لاسلیک او نښه کول حکومت ته کومه ګټه نه رسوله، دا ځکه چې په خپله د عبدالخالق لیک او اقرار یې نه تصدیق کاوه، نو ځکه حکومت په دغو ملایانو باندې زور واچاوه، تر څو چې له هغوی څخه د وه تنه حاضر شول او د عبدالخالق د جعلي لاسلیک تر څنګ یې دغه عبارت ولیک:

"به قلم خود عبدالخالق تحریر شده: عبدالرب، محمد عبدالکریم قندهاری"

هېڅ شک نه کېږي، چې که چېرې سید کمال خان په جرمني کې د یوه قانوني حکومت په واسطه پرته له کړاوونو او شکنجې او دسیسې څخه نه وای وژل شوی او د افغانستان د حکومت په لاس ورغلی وای، نو له محمدعظیم منشي زاده او عبدالخالق څخه به یې ښه حالت نه درلود، یعنې د وحشیانه کړاوونو له تیرولو او وژلو وروسته به یې هغه پسې هم د اخلاقو مخالف دروغجن تورونه خپرول.

د افغانستان حکومت چې د عبدالخالق د سوال او ځواب د پاڼو له خپرولو څخه «د خپلو اعمالو د افشا کېدو له ویرې» عاجز و، یو اځې د شرعي محکمې پرېکړه یې د اصلاح د ورځپاڼې د ۱۳۱۲ل کال د لیندۍ د ۲۹مې نېټې په ۱۱۲مه ګڼه کې خپره کړه. د محکمې ددغې پرکړې په پای کې، لاندنیو قاضیانو او مامورینو لاسلیک او مهر لګولی و: ملاّ احمدخان غزنوي د ابتداییه محکمې قاضي، د مرافعه محکمې قاضي صالح محمدخان، د تمیز رییس عبدالرب، د تمیز لومړی غړی عبدالحی خان، د ابتداییه لومړی مفتي محمدعلي خان، د ابتداییه محکمې مفتي خیرالله خان، مفتي حضرت نورخان، د مرافعې مفتي عبدالحمید خان، د تمیز د وهم غړی نصرالله خان او د تمیز غړی محمد عبدالکریم خان.

## درېیم

# د واکمنې کورنۍ یوه بله څېره

له دغې پېښې څخه وروسته حکومت د کورنۍ اداري پلان ته پراختیا ورکړه، چې د هماغه جاسوس او نظامي حکومت پر بنسټ یې د یو شمېر کسانو کنټرول، د یو شمېر سیمو څارنه، د تبعیض رامنځته کول، د ژبنیو تفرقو راپیدا کول، مذهبي، سیمه ییز او نژادي توپیرونو ته لمن ورکول، د بهرنۍ نړۍ پر مخ د افغانستان د ورونو تړل، د معارف او فرهنګ ویجاړول او د هېواد د قومونو تر منځ د دښمنۍ او سیالۍ پیدا کول یې لویه ځانګړتیا وه او همداسې پر مخ بوتلل. حکومت د خپلو دغو نقشو په عملي کولو کې د اشرافو، ځمکوالو او تالي څټو روحانیونو په ارتجاعي ځواك، د نویو سوداګریزو لویو پانګوالو په پیسو، ښکېلاکګرو (هندوستاني) مرستندویه جاسوسانو او د افغانستان د اردو د یو شمېر افسرانو له مرستې کار واخیست. حکومت د افغانستان ټول مبارز روڼ اندي یا په زندانونو کې واچول یا یې هم لرې پرتو سیمو ته تبعید کړل، پاتې هر یو یې په جلا جلا توګه هم په پلازمېنه او هم په ښارونو کې تر پولیسي څارنې لاندې ونیول شول. په دې توګه تر څه نا څه پېنځلسو نورو کلونوپورې د ملي مبارزې لارې ویجاړې شوې. په دغه موده کې هېڅ‌یا په آزادانه توګه هېواد څخه بهر سفر نه شو کولای او روڼ اندو د هېواد دننه هم پرته له اجازې څخه له یوه ولایت څخه بل ولایت ته سفر نه شو کولای.

دغې ډلې ټول لیکونه به، چې د هېواد دننه او بهر ته لېږل کېدل، په ډاك خونو کې پرانیستل کېدل او لوستل کېدل به. پېنځه تنو روڼ اندو نشو کولای، چې په غونډه کې راټول شي. په هېڅ یوه غونډه، اداره او مجلس کې د کورنۍ او بهرنۍ سیاست په هکله خبرې نشوی کېدای. د ملي، ملت، وطنپالنې، ترقي، ترقي غوښتنې په هکله خبرې کوونکي خلك لیوني بلل کېدل. د انګرېز د سیاست او ښکېلاك په هکله خبرې کول او د آزادي او عدالت په هکله غږېدل کټ مټ دیني خیانت او ملي خیانت شمېرل کېده.

له بلې خوا حکومت په دې لټه کې و، چې یو داسې نوی قشر وروزي، چې واکمنې کورنۍ ته له چوپړ کولو او هغوی ته د یوې آلې په توګه واقع کېدو څخه پرته نور ارزښتونه ونه پېژني. دوی غوښتل دغه جدید الولاده ډله دومره ویرېدونکي او طماع وروزل شي، چې د یو مړۍ ډوډۍ د ګټلو او یوه درېځ ته د رسېدلو لپاره یو بل سره په سیالۍ کې له هېڅ لارې او وسیلې څخه وانه وړي. په ورځپاڼو، غونډو او وروسته په راډیو (چې په ۱۹۴۱م. کې جوړه شوه) کې پرته د څو والا حضرتانو له القابو، صفتونو او نومونو څخه نور څه نه یادېدل، له دې ټولو سره سره والا حضرت له ویرې څخه ځان لکه د مرغۍ په شان کېس کې اچولی و. محمدهاشم په آس باندې چکر وهل پرېښودل، د صدارت د لوېې احاطې دېوالونه یې

د بریښنا په لوڅ سیم د یوه سنګر په توګه راایسار کړي وو. د صدارت په دواړو دروازو هم په ختیځ او هم په لویدیځ کې له وسله والو سپاهیانو برسېره د سپور نظام قطعات ولاړ وو، هغه به ځینې وختونه په موټر کې له ساتونکي سره یو ځای یا له دې یا له هغې دروازې څخه تفریح او تفرج ته وت، په داسې حال کې چې د سپور نظام ټولی به وروپسې و. هېڅ‌چا په دغو دروازو کې د درېدلو اجازه نه لرله او نه هم په عمومي لاره باندې چاته د تم کېدو اجازه وه. صدراعظم محمدهاشم خان، چې کله د شهر اراء تاریخي برج خپل کړ، د هغه د ننه نوې آباده شوې ودانۍ یې د تېرو په یوه پلن دیوال سره د یوې نظامي کلا په بڼه ایسار کړ.

شاه محمودخان هم لکه د خپل ورور په شان په وېره وېره د عسکرو د برچې تر سیوري لاندې ژوند کاوه. د هغه او نورو والاحضرتانو کورونه د وسله والو عسکرو په واسطه ساتل کېدل. دوی لکه د واکمنو بندیانو په شان شوي وو. د کورنیو چارو په هکله ټول اوامر د پردې له شا صادرېدل. د هېواد حاکمانو ټولو په خلکو باندې فشار راوړلو، بندي کولو، سزا ورکولو او کړولو کې بېخي واك درلود. جاسوسي ادارو خلك تر دایمي ګواښ لاندې راوستي وو، آن دا چې د کابینې وزیران هم د افغانستان د ضبط احوالات له رییس څخه ویرېدل د هېواد د ځوانانو د ځان ساتنې لپاره کوم ځای نه و پاتې، یوائې لاره ورته همدا پاتې وه، چې لکه د اوومې پېړۍ د موالیانو په شان ځانونه د واکمنې کورنۍ په یوه غړي پورې وتړي او د هغه په سیوري کې یا د شاه جي او الله نواز هندوستاني په سیوري کې ژوندي او داړه پاتې شي، که نه پرته له هغه به لکه د یوه مجرم په شان په وېره او دایمي اندېښنه کې پاتې کېدل. افغانستان د واکمنې کورنۍ په یوه شخصي کور بدل شو، چې ولس او خلك یې مریبان بلل کېدل. ملي شتمني ددغې کورنۍ خپل مال بلل کېده، د هېواد د سېما ټوله خزانه د سلطنتي ارګ په لاس کې وه او د هېواد د عوایدو او لګښتونو بودیجه پټه ساتل کېده. د شاهي کورنۍ ټول خوراك، جامو او ګرځېدو راګرځېدو لګښتونه له همدغې پټې بودیجې څخه ورکول کېدل. ددغې کورنۍ ۳۰۰ تنو ښځو او نارینه وو د افغانستان د خواریکښو خلکو د زیار په پیسو شاهانه ژوند پر مخ بیوه. په بودیجه کې به د کورنۍ د نورو ټولو لګښتونو څخه پرته دوه کروړه روپۍ (شل میلیونه افغانۍ) نورې د صدراعظم د شخصي اختیاراتو په نامه تخصیص او په‌ پام کې نیول کېدې، چې د هغو حساب او د لګښت سند ته اړتیا نه وه. همدا رنګه ټوله نظامي بودیجه د شاه محمود خان په واك کې وه، هېڅ چا او هېڅ کوم ځواك له هغه څخه د پوښتنې او هغه سره د محاسبې کولو حق نه درلود. هسې په نوم شورا د دولت د کلني لګښت او عاید د اندازې د اورېدلو او لاسلیك کولو حق درلود او بس.

د شاهي په لوړه اخته کورنۍ حرص دومره زیات و، چې د هېواد د اوږده تاریخ په ترڅ کې یې ساری نه و، دغه حرص د دوی یو ځانګړتیا شوې وه. له هغې ورځې څخه، چې دغه کورنۍ افغانستان ته را ننه شوه، هېڅ‌چا د دوی سراچه، ډوډۍ او چای ونه لیدل. دوی په خپل حرم کې د ننه د وسپنې نغري باندې خپله مختصره ډوډۍ پخوله. د دوی نوکرانو هېڅ وخت د خپلو بادارانو ډوډۍ په ژبه هم نه وه ایښې. په کابل کې د دوی د بخیلۍ، ممسك او سوګت والي په هکله نکلونه کېدل او په دې هکله یې متلونه جوړ

کړي وو. البته له ورکتوب څخه دا ددې کورنۍ یوه ځانګړتیا ګرځېدلې وه. دا څکه چې په هندوستان کې یې د انګرېزي دولت لږ څېره اخیستې وه او دغې بېوزله او بیکاره کورنۍ هلته په ممسکوالۍ عادت شوې وه. کله چې دوی د یوه هېواد مطلق العنان سلطنت ترلاسه کړ او ټول هېواد او د هغه خزانې یې لاس ته ورغلې، بېخي حیران او لیوني شول. نو ځکه لکه د یوه روژه نیولي وحشي دښمن په شان یې په خوړلو پیل وکړ او له هر جنس څخه یې دومره خوراکونه وکړل، چې وپړسېدل. ددغې کورنۍ هر غړي جلا جلا د افغانستان په هره برخه کې چې ښه ځمکه او ښه بڼ وموند هغه یې په بېلا بېلو ګواښونو، جبر، بخشش، سوغات، بډو او نورو نومونو سره ترلاسه او خپل کړل. په ټولو بانکونو او شرکتونو کې یې ونډې ترلاسه کړې، په شخصي سوداګري، کهنه فروشي، پور ورکولو، سودخوړلو، د چرګانو او شیدو، مستو په پلورلو بوخت شول. سره زر، ګرانبیه ډبرې، خطي نسخې، غالۍ او پوستکي یې بهر ته صادرول. دغې کورنۍ له رسمي معاش، خپلو ماکولاتو، رسمي میلمستیاوو، د ملي او شخصي فابریکو له ظریفه صنایعو، د لویو سوداګرو له سوغاتونو او پیسو، بهرنیو اسعارو، د مالیې وزارت، ګمرکونو، ملکي او نظامي بودیجې او لنډه دا، چې د هېواد له ټولو سرچینو څخه پیسې ترلاسه او په بهرنیو بانکونو کې یې په سلهاوو میلیونه ډالره زېرمه کول او د هېواد په لوټ کې یې په ښکاره توګه له قاچاق وړونکو، سوداګرو، شرکتونو، تانه لرونکو او نورو سره لاسونه یو کړل. صدراعظم محمدهاشم خان پیل مرغ پلورل پیل کړل او پاچا د شیدو پلورلو مغازه جوړه کړه. د دربار وزیر او د پاچا خسر احمدشاه خان د خپلو وریجو او غوړیو څېره چې د ارګ له پخلنځي څخه به یې په خام ډول ترلاسه کول. په بازار کې پلورل. په هغه ورځ، چې محمدهاشم خان ومړ، د هغه شخصي تحویلخانه د کابل د پیرېدونکو د حیرانتیا لامل شوه. دا څکه چې په هغې کې د چېراسیانو له دریشي ګانو څخه نیولې، تر عسکري خولیو، د ختګرو ترسامان، د خیاطي وسایل، د روغتون او پخلنځي تر اسباب او په سلګونه نورزاړه او نوي وسایل پراته وو.

دغه شیان بیا وروسته تر څو کلونو پورې پلورل کېدل. سره له دې، چې د پیسو زېرمې یې په امریکه، لندن، پاریس او سویزرلند کې وې. له دې ټولو څخه په کابل کې د محمدهاشم خان له شتمنۍ څخه پنځه وېشت میلیونه افغانۍ دده وریرونو (محمد داود خان او محمد نعیم خان) ته ورکړل شوې، چې دغې شتمنۍ کې باغونه، ودانۍ او ځمکې نه راتلې.

ددغو خوړیو شتمنیو او دومره پیسو سره سره د دوی طبیعي سوګت والي او امساک له منځه نه و تللی. محمدهاشم خان په کابل، شیوه کې، چهلتن، پغمان، شکردره، لوګر، بګرامیو، جلال آباد او نورو ځایونو کې، چې اعلی ځمکه لیدله، هغه یې په زور، ګواښ او نورو بنو ترلاسه کوله.

د میرزمان خان کوڼې، حسن خان مومند او نورو سیاسي بندیانو ګانې یې د هغوی له ښځینه بندیانو څخه واخیستې، محمدهاشم خان آن له خپل ګوښه کېدو څخه وروسته هم د صدارت رسمي ودانۍ، اسباب، اثاثیه او موبل خپل شخصي کور ته یوړل او تر هغو، چې مړ کېده له هېڅ بېوزله سره یې یوه روپۍ مرسته ونه کړه. هغه د میلمستون په نامه د ارګ په شمال لویدیځ څنډه کې دولتي لګښت باندې

ودانۍ جوړه کړه او بیا یې هغه د پاچا په فرمان سره ځانته د بخشش په توګه ترلاسه کړه او بیا یې بېرته په دولت باندې وپلورله او پیسې یې ترلاسه کړې. پاچا هم کټ مټ د پغمان د غونډۍ د بڼ او ودانۍ په هکله همدا چلند وکړ او بیه یې د ملت له خزانې څخه ترلاسه کړه. شاه محمود خان هم تر څو چې مړ کېده، کوم بېوزله ته یوه روپۍ هم ورنه کړه. هغه د شپې د بلیارد په میز باندې خپل سګرت له خپلو میلمه لوبه کوونکو څخه اخیستل او کله به چې کابل سینما ته ورته د ټکټ پیسې به یې له خپل ډریور څخه په پور اخیستې، خو بیا به یې دغه پور بېرته نه ورکاوه. یو ځل یې ډریور خپل پورونه وغوښتل، خو تر غوسې لاندې راغی او له دندې وشړل شو. کله به چې په منې کې دده د ریشخورو په باغ کې پاڼې توې شوې، نه یې پرېښودل چې دده د باغوان پسونه د ونو پاڼې وخوري، بلکې امر به یې وکړ، چې پاڼې راټولې شي او بیا به یې په بیه په دغه بېوزله باغوان پلورلې، برسېره پر دغو ځانګړتیاوو، محمدهاشم خان او شاه محمود خان، چې دواړو د هېواد واک په لاس کې درلود، دواړه د نړۍ له زړو او نویو علومو څخه بې برخې وو. دوی په هېڅ ځانګه کې کومه مطالعه نه لرله، نو ځکه به یې د پوهو او عالمو خبرو له لیدلو څخه ځانونه په ځنګ کول. دوی به هغه کسان راټولول، چې د هغوی علمي کچه به تر دوی څخه ټیټه وه او یا هم ځانونه له دوی څخه ټیټ معرفي کړای شي. له دې پرته محمدهاشم خان ناقص الخلقه او عنین و. دده د غړ تغییر د همدې نیمګړتیا له کبله و. د نیمګړتیا دغه کروم او د حقارت احساس هغه نور هم ظلم، بیرحمۍ او توندي ته هڅاوه، که د افغاني روڼ اندو ګولۍ نه وای، دغه سړي به د هېواد په زرګونه نور خلک هم په وینو او خاورو کې لژند غورځولي وای.

Scanned by CamScanner

# خلورم
# د دولت چلند

محمدهاشم خان د خپلې کورنۍ، د سلطنت د ساتنې په خاطر، په هېواد کې د ټولو ملي مبارزینو په وړاندې د «ورکاوې» او «چاپ کولو» سیاست غوره کړ. له بلې خوا یې د سلطنت د شریکانو او ملګرو په توګه د ټولو ښکېلاکګرو او ارتجاعي ځواکونو په راټولولو او پیاوړي کولو پیل وکړ. سلطنت په نظامي روند ځواک سره خپل یو شمېر پلوي روحانیون ځمکوال، زاړه اشراف، یو شمېر لوی سوداګر او دلالان او جاسوسي خدمات د خلکو او ولس په وړاندې ودرول. دولت له بهرنۍ ښکېلاکګرو سیاست څخه ملاتړ ترلاسه کاوه او د هېواد دننه یې خپله نقشه د هغوی په خوښه پر مخ بیوله او دغه چلند یې په تدریجي فشار، چل دوکې او سیاسي دسیسې، اداري او قضایي زور او د مذهب تر نقاب لاندې پر مخ بیوه.

## بهرنی سیاست

محمدهاشم خان په بهرني سیاست کې له انګرېزانو سره په دوستۍ او د انګلیس دولت باندې په ډېر لګولو سره یو اړخیز سیاست غوره کړی و، په معنا کې د هغه دولت د مشورې او دیکټې تر اغېزې لاندې و. له همدې امله یې له شوروي اتحاد سره له اړیکو څخه ډډه وکړه، له همدې امله په ١٩٣٨م. کال کې د هیرمند د اوبو په تړون کې د افغانستان حق ایران ته ور پرېښودل شو، تر څو د محمدهاشم خان حکومت له بهرنیو کشمکشونو او لانجو څخه ژغورل شوی وي او په داډه زړه په کورني ښکېلاک لاس پورې کړي. په نړیوال سیاست کې حکومت په ١٩٣٤م. کال د ملګرو ملتونو غړیتوب ترلاسه کړ او په ١٩٣٥م. کې ١٥٠ تنه جرمني متخصصین د نساجي (اوبدلو) او برېښنا د صنعت او نورو څانګو کې په کار وګومارل شول. په ١٩٣٦م. کې له شوروي اتحاد سره د ناپیلتوب د تړون اوږد بدل لاسلیك شول. په همدې (١٩٣٦م.) کال کې د امریکا او افغانستان تر منځ د دوستۍ تړون په ایران کې د امریکې له ټاکل شوي شارژد افیر سره په کابل کې لاسلیك او د افغانستان د تیلو د ایستلو امتیاز د ٧٥ کلونو لپاره د امریکې یوې پلټونکې کمپنۍ ته ورکړل شو (البته تر لږ څه لومړنیو چارو وروسته په ١٩٣٩م. کال کې، دغې کمپنۍ، د دوهم نړیوال جنګ د خطر د رانږدې کېدو له امله خپل امتیاز پرېښود). په ١٩٣٧م. کې د محمد هاشم خان حکومت په ایران کې د ایران له حکومت او د ترکیې له جمهوریت سره د سعدآباد د نه تیري تړون لاسلیك کړ، چې موخه یې د شوروي اتحاد په جنوبي پولو کې د اسلامي هېوادونو د کړۍ ټینګښت و. همدا رنګه د برازیل له دولت سره په ١٩٣٣م. کې د دوستي او یو بل د پېژندنې تړون، په

۱۹۳۴م. کې له مجارستان سره، په ۱۹۳۷م. کې له چکوسلواکیا سره او په ۱۹۳۹م. کې له هالند سره تړونونه لاسلیك شول. په دې توګه د افغانستان د بهرني سیاست برسیرن رنګ یو څه ښکلی شو او محمدهاشم خان د هېواد دننه په پراخه لاس لرلو سره د افغاني ټولنې په ځورولو او اختناق اخته شو، خو په معنوي توګه یې د انګلیس په دولت پورې لګولې وه، خو د افغانستان سیاسي انزوا (ګوښه توب) او د تړلو دروازو کلك سیاست لکه د پخوا په شان دوام درلود.

## خو ګورنی سیاست

محمدهاشم خان په کورني سیاست کې د عمومي اختناق او زورزیاتي چلند غوره کړی و او غوښتل یې، چې افغانستان د نولسمې پېړۍ په شان د امیرعبدالرحمن خان دورې ته بېرته وروګرځوي، نو ځکه یې زندانونه زیات کړل، آن دا چې د کابل ختیځ کې یې د لسګونو جریبو ځمکې په پراختیا د پلچرخي په سیمه کې د یوې جنګي کلا په بڼه د یوه لوی محبس د جوړولو نقشه جوړه کړه، تر څو وکولای شي په زرګونه افغانان پکې واچوي، خو ددغې نقشې د بشپړولو وخت یې ونه موند، دا ځکه چې دوهمه نړیواله جګړه رانږدې شوه. محمدهاشم خان د ملت د ویرولو په خاطر د افغانستان په شمال او جنوب کې لرې پرتې سیمې د سیاسي تبعید ځایونو په بڼه غوره کړې، تر څو خلك په خپلو سترګو باندې د هغو کسانو حالت ووینې، چې د حکومت د قهر ور ګرځېدلي دي او عبرت واخلي. دا دی دلته د بېلګې په توګه خپل د سترګو لیدلی حال لنډه شرحه لیکم:

## د هېواد په لرې پرتو کلیو کې سیاسي تبعید ځایونه

د ۱۳۱۴ل. (۱۹۳۵م.) کال د تلې په ۲۸مه نېټه د موتي سرای د ویروونکي زندان ورونه پرانیستل شول او یو افسر له یوې پاڼې سره راننوت. ټول بندیان برنډو ته راووتل. افسر غږ وکړ، چې د یو شمېر بندیانو نومونه اخیستل کېږي، دوی دې خپلې بسترې را واخلي او تګ ته دې چمتو شي، کله چې د ۲۲ تنو نومونه واخیستل شول، د بندیانو خدای پاماني پیل شوه، خو دواړه ډلې له خپل برخلیك څخه خبرې نه وې، عسکرو تلونکي بندیان په ګاډیو (بګیو) کې واچول او وخوځېدل. زه لیکوال د خپلې کورنۍ له څلورو تنو سره یو ځای په همدې ډله کې وم. موټر یې د کابل د کوتوالي په توقیف ځای ور دننه کړو او بیا یې د کوتوالي دالان ته ورټول کړلو. د دالان په برسر کې د افغانستان د ضبط احوالات رییس میرزا محمدشاه خان د کابل د کوتوالي له قومندان سره یو ځای ولاړ و. رییس خبرې پیل کړې او بندیانو ته یې وویل:

"تاسې بل هېڅ نه یاستئ خوښې، مګر په خپله اعلیحضرت معظم همایوني دغه حکم وکړ، تاسې به څوورځې دلته پاتې کېږئ، تر څو والاحضرت صدراعظم وخت ومومي تاسې یو ځل وګوري او یو څه هدایات درکړي. بیا نو تاسې خوشې کېږئ او خپلو کورونو ته به ځئ" د بندیانو له کتار څخه کوم غږ

پورته نه شو ، البته د بندیانو د خوشې کولو دغه رسمي ژمنه دروغ وه ، دا ځکه چې حکومت د خلکو د روحیاتو د ماتولو لپاره سزاګانې په هر بېلابېل پړاو کې نورې هم سختولې تر څو د خلکو مقاومت بېخي له منځه یوسي. په دې توګه وروسته تر یوې اونۍ پروپاګند و شخه ، چې د بندیانو د خوشې کولو په هکله کېدې ، یوه شپه طره باز خان قومندان مور ور وغوښتلو او د کندهار او خان آباد د ښارونو ته یې زمور د تبعید او په کابل کې د سر او عمل د ضامن ورکولو (یعنې له تبعید ځای څخه د بندي د تېښتې په صورت کې یا له حکومت سره د مخالفت په صورت کې به د تبعید شوي بندي ضامن په کابل کې تر سزا لاندې راوستل کېږي. په دې هکله مور ته صدراعظم فرمان ابلاغ کړ. ده له خپله لوري دا هم اضافه کړه ، چې: (تاسې ملت ته د خدمت کولو ادعا لرله ، حکومت غواړي ، چې تاسې یوځه موده له نږدې څخه له ملت سره اشنا شئ) خو د نوموړي دا خبره هم دروا غ وه ، دا ځکه چې دوی دغه تبعید شوي کسان د دین او دولت د خاین په نوم په جلا جلا توګه د هېواد ډېرو لرې پرتو سیمو لکه بالابلوک ، ګرمسیر ، ارزګان ، چخانسور ، زمینداور ، خوست و فرنګ او نورو کلیو کې اچول او بیا یې د بندي توب په ژوند له خلکو څخه جلا او په رسمي ګوابنونو تر څارنې لاندې نیول. مور هر یوه باید سهار او ماښام علاقه دار او سیمه ییز حاکم ته ورتلای او حاضري موور کولای او له ټاکلي ځای څخه پرته باید بل هېڅ ځای ته نه تلای.

په هر حال ، وروسته تر ۱۳ ورځو (د لرم په یوولسمه) یې مور په مال وړونکو لاریو کې له خپلو کورنیو سره نیم د هېواد د شمال لوري او نیم د جنوب لوري ته ولېږدولو. زما د تره زامن سید اکرم خان او سید داود خان په شمالي کاروان کې له مرزا رحمت الله خان مخفف نویس ، د دارالتحریر کاتب محمد قاسم خان ، د استقلال د لیسې مرسیتال محمد حسین خان ، د شفر مدیر عبدالغفورخان او د بهرنیو چارو : شفر کاتب عبدالرؤف خان ، شاعر حافظ محمد اکبر خان فارغ ، د بهرنیو چارو د وزارت د انګرېزي ژبې ژباړونکی محمد نعیم خان سره یو ځای ولېږدول شول. په جنوبي کاروان زه لیکوال زما له ورونو میرغلام حامد خان بهار ، میرعبدالرشید خان بیغم سره او د بهرنیو چارو د وزارت کاتب پاینده محمد خان او د هغه ورور د طب پوهنځي محصل غلام محمد خان ، فرانسوي ژباړونکی غلام رسول خان او د اصلاح ورځپاڼې سرکاتب مرزا غلام حیدر خان مدرس سره ګډ راغلو. د بهرنیو چارو د انګلیسي ژباړونکی غلام رضا خان هندوستان کې په تبعید باندې محکوم شو ، خو هغه د انګرېزانو تر واکمنۍ لاندې ورتګ ته دومره مخالفت وکړ او له تګ څخه یې ډډه وکړه ، چې په دې کار سره حکومت هغه لس کاله نور هم بندي کړ. یوا ځې دوه تنه له حبس او تبعید څخه وژغورل شول ، یو یې په جرمني کې د زده کړو خاوند معبود خان و ، چې وروسته یې بیا په کابل کې ځان په خپله مړ کړ او بل د ضبط احوالات کاتب شیراحمد خان و ، چې وروسته بیا په صدارت کې مدیر شو.

په هغې لارۍ کې ، چې زه او زما کورنۍ وه ، د ډرېور تر څنګ یو افسر او دوه تنه وسله وال سپاهیان موټر کې دننه ناست وو ، کله چې غزني ته ورسېدلو ، ساتونکو لارۍ ودرولې ، له بازار څخه یې ځانونو ته ډوډۍ او خوراك واخیست او ځانونه یې ماړه کړل ، خو مور ته یې له لارۍ څخه د راښکته کېدو او د

ړوړۍ د اخیستو اجازه رانه کړه. د لاریو شا وخوا سپاهیانو کړۍ راتاو کړه هېڅوك يې نه پرېښودل، چې رانږدې شي. مشر افسر همدا هڅه کوله، چې خلکو ته دغه تبعید شوي کسان خطرناکه او مرموز خلك وښيي. د شپې په مقر کې تم شولو. هر څوك له خپلې کورنۍ سره يو ځای د هټيو تر شا کوټو کې واچول شولو. البته دلته مو وکولای شول، چې د سپاهيانو په لاس يو څه خوراك ځانته وپيرو. په دغه سبا چې سپيدې وچاودې، کاروان روان شو، خو موږ ته يې د سهارني وخت رانه کړ، همداسې بيا په کلات کې هم دا فرصت برابر نه شو، مازيګر مهال لارۍ د کندهار ښار د ارګ د ډګر په يوه څنډه کې ودرېدلې او د شپې دوه ساعتونه تېر شول او موږ ولاړ پاتې وو. سپاهيانو ايسار کړي وو او خلکو له لرې راته کتل او تېرېدل به. محافظ افسر ورك و، کله چې بېرته راپيدا شو، ډېر ستومانه و، موږ ته يې وويل: "له دې امله چې سبا ته دولتي ميلمانه ښار ته راځي، والا حضرت (سردار محمدداودخان د پاچاړ تره زوی د کندهار او فراه د ولايتونو نظامي قومندان او والي) امر وکړ، چې تاسې د شپې په کندهار ښار کې نه پرېږدو، تاسې بايد له ښار څخه بهر ولېږو، کله چې ايراني ميلمانه تېر شول، بېرته مو ښار ته راولو."

البته دا خبرې هم دروغ وې، خو افسر د حکومت په دغو درواغو خبرو باندې نه پوهېد.

په هر حال: شپه مو په لاريو کې له ارغنداو پله سره بې له ډوډۍ خوړلو څخه تېره کړه، تر دې مهال پورې د محمدداود خان له لوري د يوه بل افسر په لاس يو نوی امر راغی او زموږ کاروان يې د هيرمند خوا ته روان کړ. د لړم په ديارلسمه مازيګر مهال موږ ګرشك ته ورسېدو، موږ ته وويل شول، چې ګرشك زموږ تبعيد ځای دی. موږ هر يوه ته يو کور راکړل شو. د سيمې حاکم دوست محمد خان (چې د ننګرهار ولايت يو خان او ځمکوال و) امر وکړ، چې بايد موږ سهار او ماښام د سيمې په کوټوالي کې حاضري ورکړو او هرې کورنۍ ته به د ورځې يوه افغانۍ نغده د ځيرې په توګه ورکول کېږي. خو د حکمران دا خبرې هم دروغ وې، دا ځکه چې اته ورځې وروسته بيا يو شمېر افسران او عسکر د تبعيد شويو د کورونو تر مخې ودرېدل. لارۍ يې راوستې او هره کورنۍ يې په يوه يوه لوري بوتلل. په دې ډله کې ما له خپلو ورونو سره خدای پاماني وکړه، دا ځکه مير عبدالرشيد خان يې په ګرشك کې پرېښود، ميرغلام حامدخان يې د هغه له کورنۍ سره ګرم سير ته تبعيد کړ او يو شمېر نور يې ارزګان او زمينداور او چخانسور ته واستول.

زمونږ لارۍ، چې د يوه افسر او دوو عسکرو تر څارنې لاندې روانه وه، د شپې دل آرام ته ورسېده او په هغه سبا د لړم په ۲۲مه نېټه موږ فراه ته ورسېدلو. زه يې د فراه په يوا ځيني کاروانسرای کې تر څارنې لاندې وساتلم او راته ويې ويل، چې همدا ستا وروستی تبعيد ځای دی. خو دا خبره هم دروغ وه، دا ځکه چې دوه ورځې وروسته د ښار کوټوال سردار غلام حيدرخان محمدزي، چې د نورو ټولو بشري فضيلتونو پر ځای يې فقط اوږده او غټ بريت لرل، د اعلی حاکم سردار عبدالرزاق خان محمدزي په امر د يو افسر او دوو سپاهيانو تر څارنې لاندې په يو نامعلوم لوي روان کړو. مازيګر مهال داسې يو ځای ته ورسېدلو، چې نور نو لاره نه وه، نو ځکه يې له نږدې کلي څخه يو څو خره راوستل او زموږ د سفر

Scanned by CamScanner

سامانونه یې وربانديې بار کړل او موږ ورپسې په پښو پلي روان شولو.

ماښام یوه جومات ته ورسېدلو او هلته ویده شولو. سبا وروسته تر لږ مزل څخه د علاقه دارۍ مرکز ته ورسېدلو، دا یو خورور کلی و، چې د فراه رود سیند لوېدیځ ته پروت و. هلته یې یو کوچنی انګړ، چې دوه ګومبذي کوټې یې لرلې، موږ ته راکړ او راته ویې ویل، چې همدا ستاسې ابدي ځای شو. ما بیل را واخیست د دغه انګړ او کوټو په پاکولو بوخت شوم. لا کار مې سم نه و پیل کړی، چې دوه غیر منظم ټوپک لرونکي راغلل او راته یې ویل: "سردار صاحب تاسې دربار ته غوښتي یاست." زه پوه شوم، چې ښاغلی علاقدار هم محمدزایي دی.

کوم دربار، چې دغو سپاهیانو ماته ویلې و، یوازې یوه منځنۍ اندازه انګړ و، چې یو څو یو پوړیزه ګومبذي کوټې یې درلودې. په یوه کوټه کې سردار په یوه توشکه باندې ناست و، ورسره یو ځای یو کاتب او د سیمې څو تنه مخور هم ناست وو. سردار یو ډنګر توربخن ځوان و، چې نوم یې عبدالروف خان و. په اصل کې د ننګرهار له ولایت څخه و، چې د فراه د حاکم زوم هم و. داسې بربنښېده، چې په سترګه باندې یې کومه زخه او پرسوب راختلی و، نوځکه یې یو ژیړ رنګه تاویز وربانديې ځړولی و.

علاقدار ماته وویل: "د مرکز له امر سره سم به تاسې او ستاسې کورنۍ وروسته تر دې په بالابلوک کې ژوند کوئ (دا مهال پوه شوم چې زما تبعید ځای بالابلوک نومېږي) له دې امله چې تاسې څمکه نه لرئ، چې کرنه وربانديې وکړئ، نو دولت تاسې ته په میاشتې کې د ورځې هر تن ته یوه یوه روپۍ درکوي. ته به په خپله هره ورځ سهار او مازیګر علاقداري ته راځې او حاضري به ورکوې، بل هېڅ ځای ته او آن د همدې بالابلوک کلیو ته هم نه شې تلای. زه وروسته وپوهېدم، چې د هغه کلي له ملک شیرمحمد خان څخه یې هم یو لیک او استحضاري سند اخیستی و، چې ما تر څارنې لاندې ونیسي او که زه له دغه ځای څخه راستون شوم، نو زما ماشومان چې وړي وو او تر ټولو مشر یې ایله اته کلن و. ډوډۍ وغوښتله. دلته کوم بازار نه و، هرې کورنۍ خپله ګوزاره کوله او په ځان تکیه وه، یعنې هرې کورنۍ خپلې اړتیاوې په خپله ځانته په خپل لاس پوره کولې. دوی ته د پخې ډوډۍ پلورل شرم ښکارېدل، نو اړ شوم، چې سمدستي یوه ډوډۍ وریا ترلاسه کړم تر څو چې خپله د خپلو اړتیاوو د پوره کولو په لټه کې شم.

## په سیاسي تبعید کې د یوه لرې پروت کلي یو انځور

بالابلوک د یو څه کوچنیو او ګډوډو کلیو څخه یوه جوړه سیمه وه، چې د فراه د ښار په مشال ختیز څنډه کې د فراه رود تر غاړې پرته وه. خلک یې کروندګر او لږ شمېر یې څاروي لرونکي وو. په دغه ټوله سیمه کې هېڅ ډول صنایع او لاسي کارونه، ښوونځي بازار او هټۍ نه وه، آن دا چې ډول او سرنی او کوم بل شی، چې آن د ابتدایي بشریت د ژوند برخه وه، دلته نه لیدل کېدل. خلکو د اړتیا وړ اجناس جنس په جنس باندې تبادله کول، د بېلګې په توګه بوس په لرګیو او لرګي په بوسو باندې پلورل پیرودل کېدل، غنم په انګورو او داسې نور. پیسې ډېر لږ وې او یوازې په ځینو ځانګړو چارو کې په کار تلې، یو چرګ د یوې روپۍ برابر، یو من غنم دوه نیمې روپۍ، یو من غوړي ۱۲ روپۍ، د چرګې پنځوس هګۍ یوه

Scanned by CamScanner

روپۍ، یوه منځنۍ اندازه پسه لس روپۍ بیه لرله. وریجې، سابه،* چای او بوره او نور خوراکي توکي نه موندل کېدل خلکو خوراک عموماً ډوډۍ، جوار، غنم، شړومبې، شیدې او کرت و.

دا ځکه چې دلته د قصابۍ هټۍ او د غوښې پلورل او د پسه غوښه یواځې د سیمې خانانو خوړلای شوه، هرې کورنۍ نشوای کولای، چې پسه حلال کړي، خو په کوم واده، مړي یا به هم په ژمي پیرودل نه و، کروندګرو او کارګرو به د کار په ورځو کې له کرتو سره ډوډۍ خوړله کې د وچولو لپاره به یې پسه حلالوو، ځمکوالو د چرګ ښوروا او هګۍ یا به یې ماښام جواري یا غنمینې ډوډۍ سره شړومبې یا مستې خوړلې، نو د هغوی له هم خوړلای شوی. بې ځمکو خلکو او بزګرانو به که چېرې کومه غوا یا پسه او مېږه لرله، که به یې غوا شیدو به یې کوچ جوړول او هغه به یې پلورل، خو خپله به یې جواري له شړومبو سره خوړ، مړه شوه، نو مېښه به یې ویجاړه وه. حال دا چې د یوې غوا بیه له دوه نیم سوه روپیو څخه زیاته نه وه.

د خلکو د ژوند د ښه انځور کولو لپاره به دلته خپل د سترګو لیدلی حال راوړم: د عبدالحمید د کلا تر څنګ د آغا شیر (آقا شیر) په نوم یو سړی اوسېده، دغه اتیا کلن سړی ښه هلور او د دنګې ونې خاوند و. په میاشت کې به یې یو ځل خپله ږیره او بریت دواړه خرېيل. له کاره ستومانه سړی و، ټوله ورځ به یې د امیر شیرعلیخان د دورې نکلونه کول، دا ځکه چې نوموړی د هغه مهال په پوځ کې سپاهي و. یوه میرمن او دوه زامن یې لرل. مشر زوی یې کار او ښکار کاوه. کوچنی زوی یې غوا پیوله. ښځې یې د عبدالحمید او نورو خلکو ډوډۍ په اجوره پخوله. یو ناڅاپه یې مشر زوی د نس ناستې (اسهال) په ناروغۍ اخته شو او مړ شو. په دې توګه د دغې کورنۍ ټول ژوند همدې یوې غوا پورې وتړل شو.

عبدالحمید به دوی ته یواځې بوس ورکول او بس. له بده مرغه د دوی غوا د څرېدو پر مهال ټنده شوه، وپړسېده او مړه شوه. ما لیدل، چې دده کوچنی زوی د کلي له ماشومانو سره له ډېره غمه لوبې پرېښودې، مور به یې اوښکې تویولې او آغا شیر به د ویالې تر غاړې ناست و. چرتونه به یې وهل. په دې توګه د دغې بې ځمکې کورنۍ ژوند د یوې غوا په مړه کېدو سره ویجاړ شو. له هغه وروسته به یې شپه او ورځ کار کاوه او په ټوله ورځ کې به یې دوه سوکړک خوراک و. دغه بوډا به هره ورځ د فراه رود تر غاړې بوخت و. کومه ورځ به یې که یو دوه کبان ونیول، په لښته کې به یې واچول او په تنور کې به یې کباب کړل، نو په هغه ورځ به د دوی په ټوله کورنۍ باندې اختر و.

دغو خلکو ته واده کول ډېر ستونزمن کار و، دا ځکه چې د نارینه وو په پرتله د ښځو شمېر کم و او د واده لګښت ډېر زیات و. ځینې وخت به دوی د چخانسور له بلوڅانو سره خپښې کوله، دا ځکه چې هغوی تر دوی څخه هم بېوزله وو. د وسپنې کرنیز وسایل، جامې او رخت، کوره سان، قنایز شکن (تاري صوف رخت) تار او ستن او داسې نور شیان به یې د فراه له ښار څخه ځانته راوړل. ډېرو کورونو کوم فرش او آن پوزې نه درلود. د کوټې په یوه ګوټ کې یو کټ د خوب بستره وه او بس. د کور ټول لوښي دا وو: د اوبو خیګ، جام، کاسه او مسي کوزه ښځو او نرو به اوږده کمیسونه او چین لرونکي پرتوګونه اغوستل. نارینه به لونګې او ښځو ته څادر او ښځو به ټیکري په سر کول، ګاڼې چندان نه وې، څراغونه او پنې چا نه پېژندلې. ښځې او نر پښې لوڅې ګرځېدل، خو ډېر کم شمېر خلکو پڼې درلودې، خو بیا یې هم په

پاکي، غسل او دجامو په مینځولو کې ډېره هڅه کوله او پاك خلك وو کوټې به یې ستره وې. یو بل سره په خبرو کې باادبه، درانه او جدي (ټینګ ولاړ) خلك وو. سپکې، سپورې خبرې یې نه کولې او د خپلې موخې په ښودلو کې یې بشپړ نزاکتونه په پام کې ساتل.

د سیند دوو غاړو ته پوره اندازه کرنیزې ځمکې وې، خو د خړوبولو لپاره اوبه نه وې، ډېر لږ برخې اوبه لرلې او د کرلو وړ ګرځېدې، د هغه ځای ډېر هوسا او شتمن بزګر له لس جریبه ځمکې څخه زیاته نه لرله، البته ډېر لوی ځمکوال هم وو. د بېلګې په توګه د بالابلوك لوی خان سلطان محمدخان نورزی و، هغه په دیزك کې اوسېده پلار یې عبدالرحیم خان نومېده، چې د جرنیل ملکي اعزازي رتبه یې لرله او په نصرالله دښته کې یې ډېرې ځمکې وې، چې د یوه کال حاصلات یې درې سوه خرواره غله کېده. نور کوچني خانان هم وو، لکه عبدالله خان او میراحمد خان د خپلو سیمو د اوسېدونکو دعواګانې به هم همدوی ته راتللې او پرېکړه به یې کوله. همدوی په دیواني او دفتري چارو کې د ولس او دولت تر منځ د اړیکو وسیله وه، چې هر یوه په خپله سیمه کې کوچنۍ دستګاه لرله. بې ځمکو وګړو د زراعتي کارګرو په بڼه کار کاوه او یو شمېر موسمي کارونه به یې هم پر مخ بیول. دوی به په ډېر زیار په کار کې همدومره غنم په مزدوري وګټل، چې ویې خوړي او یو جوړه جامې به یې وکړې. ددغې سیمې خلك زیاتره هډور-تکړه، ښکلي، خواریکښ خو په بېوزلۍ کې یې هم سترګې مړې وې او غرور یې درلود. ښځو چادري او حجاب نه پېژاند او له خپلو نارینه وو سره به یې یو ځای کار کاوه. دغو آزاده او بې پروا ښځو پاك او عفیف ژوند یوه طبیعي خبره منلې وه او له ټولو اخلاقي فسادونو څخه پاکې وې. افسوس چې دغه ډول استعدادونه مفته تر خاورو لاندې کېدل. ددغې سیمې بشري ځواك په ټول کال کې (پرته د کښت او درمند له موسمونو څخه) د کلاوو د دیوالونو پېتاوې او یا په خپلو کوټو کې لکه د تړل شویو زمریانو په شان په جبري بیکاري او قهري لټي اخته وو، دا ځکه چې نه لاسي صنعت و، نه چا ورته د آبادي چارې پیل کړې وې او نه هم کوم کسب او کار و، چې وکولای شي، د آسیا دغه ځواکمن لاسونه او پیاوړې متې د خپل هېواد او د خپلو ځانونو په ګټه په کار واچوي.

دوی ته لا په هماغه زاړه دود کرنه کې هم ښودنه کېده. دوی یوازې جوار او غنم کرل. د هیندوانو، خټکیو، بادرنګو او بانجانو له پالیزونو سره نه و آشنا او نه یې پېژندل، باقلي کرل یې نه وزده، له دې امله چې سبو بازار نه درلود، نو ځکه هغه هم نه کرل کېدل. د خړوبولو امکانات او وسایل ډېر لږ وو، په دغه ټوله سیمه کې پرته له یو څو خانانو او ملایانو څخه نور یوه هم سواد نه درلود. آن په جوماتونو کې هغه پخواني کلیوالي ښوونځي هم نه وو، خو بیا هم دوی دولت ته مالیه ورکوله او د ماسل زور ته یې غاړه ایښې وه. د څارویو مالیه به یې پرته له شمېرلو څخه لا زیاته ورکوله علاقداري به د تېر کال د لسو پر ځای یوولس دولت ته ورکول، ډېره برخه مالیات به یې خپله خوړل.

دغه د تېر کال د لسو په پرتله یوولس به ځکه دولت په دې نوم یادول، چې ویل یې څاروي خامخا نظر تېر کال ته زیاتېږي، خو د څارویو مړینې او د شپنو او مالدارانو بېوزلي یې په پام کې نه نیوله، نو ځکه خلکو دولتي مالیاتو ته د (غم) نوم ورکړی و.

جشنونه او آن د سنتي خوشالي نه پېژندله. په ودونو کې ددغې سیمې خلکو (پرته له دوو اخترونو) نور جشنونه او آن د سنتي خوشالي نه پېژندله. په ودونو کې ددغې سیمې خلکو (پرته له دوو اخترونو) نور

ددغې سیمې خلکو (پرته له دوو اخترونو) نور جشنونه او آن د سنتي خوشالي نه پېژندله. په ودونو کې ساز او آوازونه نه و، یواځې به یې د ټوپکو ډزې وکړې او د کلي خلکو ته به یې ډوډۍ ورکړه او ناوې به یې پر آس سپره او د زوم کور ته به یې بوتله. د غم او خواشینۍ په دود کې کوم تکلف نه و، کلیوالو به مړی تر هدیرې پورې یووړ، وروسته تر خښولو به یې دعا وکړه او د مړي خپلوانو ته به یې ډاډګیرنه ورکوله. د مړي خپلوان نارینه وو به نه ژړل، آن که ځوان زوی به یې هم مړ شو نه به یې ژړل، ځکه چې ژړا یې شرم ګڼله، غمجنو ښځو هم چیغې نه وهلې، په چوپه خوله یې اوښکې تویولې. مړینې زیاتره یاد معدې او کولمو ناروغۍ یا هم د موسمونو د بدلون له امله له نمونیا څخه پیدا کېدې، دا ځکه چې د ژمنیو بادونو (سیاه باد) په موسم کې به نارینه یو ناڅاپه سهار وختي له کورونو وتل او له تنور لرونکو ګومبذې کوټو څخه بهر به یې په فراه رود کې په یخو اوبو ولمبل، نو یخنۍ به ووهل، له دې امله چې طبیب، عطار او درمل نه وو، مړه کېدل به، ځینې به په نس ناستي او ځینې به په نمونیا تبه (سینه او بغل) اخته شول او ماته به هم راغلل او د درملو په نوم به یې یو څه چای را څخه غوښت. یوه ورځ د سلطان محمدخان کورنۍ، چې د سیمې تر ټولو لوی خان و، ماته یو آس راواستاوه او زه یې دیزك ته ور وغوښتلم له ما څخه یې هیله وکړه، چې دده د ورور عبدالروف خان درملنه وکړم.

دغه تکړه او ځواکمن ځوان په نیمونیا تبه اخته شوی و، ما هغوی ته وویل چې زه طبیب نه یم، څو ورځې وروسته خبر شوم چې هغه مړ شوی و او لازم درمل له ښار څخه ورته راونه رسېدل.

په لویو او کوچنیو اخترونو کې به ښځې او نارینه په لویو میدانونو کې سره راټولیدل، لوبې به یې کولې، اتڼ به یې کاوه، د چرګانو ایشولې پخې هګۍ به یې جنګولې. ښځې به جلا او نارینه به جلا سره راټول وو. څو په یوه غونډه کې د سیمې د علاقدار سردار حکم راغی او ویې ویل: "له دې امله چې د اعلیحضرت همایوني معظم اسلامي دولت اسلامي شریعت ته پابند دی، نو ځکه باید وروسته تر دې څخه، ښځې د میلې او اختر لپاره میدانونو ته په آزاده توګه رانشي، که چېرې کومه ښځه بهر راووتله نارینه ته به یې سزا ورکول کېږي."

په دې توګه په بل راتلونکي اختر کې یواځې نارینه وو میله وکړه او ښځې رانغلې.

د بالابلوك اوړی هم لکه د فراه د ښار په شان تود و، ځینې وخت به یې تودوخه د سانتي ګراد تر څلوېښتو درجو پورې رسېدله، خو ژمی یې برابر او ښه و، البته که سیاه باد نه وای، له دې امله چې په دې سیمه کې ځنګل او ونې نه وې. نارینه وو به خپل سون خس د دښتو له بوټو څخه پوره کول، ځینې وخت به کوچیانو له لرې ځایونو څخه لرګي راوړل او په بوسو باندې به یې تبادله کول.

له دې امله چې ما په خپله نه څمکه لرله او نه مې بوس لرل، نو ځکه مې له دښتو څخه بوټي راوړل، د فراه رود له سیند څخه مې په خیګ کې اوبه راوړلې، حال دا چې په دې سیمه کې اوبه راوړل د ښځو کار و، د ډېر ژر ددغو پیاوړو او ذکي خلکو له دود- دستور سره آشنا شوم. ما عملاً د دوی بې دوکې او پاك چلند ولید، نه یواځې ددې سیمې خواریکښو خلکو، بلکې د دوی خانانو هم مونږ (د دولت د غوسې دږ) نویو راغلو ته پتمن هر کلی ووایه. کله به مې چې غنم ژرندې ته وړل. د مرستې لپاره به یې خر راکړ او

ژرندګري به لومړی ماته وار راکړ، ما دلته یو شمېر دوستان هم وموندل، چې ټوله ورځ به یې راسره مرکې کولې. ما به له دوی سره د تیرې اچولو په ورزش کې برخه اخیسته. د دوی ښځې به زما کور ته لکه د نږدې خپلوانو په شان راتلې، په دغه ښنده کې پرته سیمه کې زما بوختیا ښکلیو غرونو او د آسمان پراخه لمنې ته پرله پسې کتل و، خو دغو غرونو ونې او بوټي نه لرل. په دغو پراخو دښتو کې هم هېڅکله د کوم کاروان د ساروان غږ وانه ورېدل شو، دا ځکه چې له سوداګریزو لارو او بندرونو څخه په څنګ کې پروت و. هېڅ کوم مسافر او ګرځندوی له دغې ګوښه سیمې څخه نه و تیر شوی او نه هم کوم ریبار او خبر رسوونکی و، چې کوم لیک راوړي. وګړي یو په بل پسې رالوییدل او مړه کېدل، خو کوم ښار به یې نه لید او نه به یې کومه نوې خبره اورېده او نه به یې کوم نوی ځای کوت.

په هر حال، څو ورځې وروسته تر هغه چې زه دغه کلي ته راغلم، حکومت له دې ویرې، چې زما مجرد وررور میرعبدالرشید بیغم له ګرشك څخه بهر هېوادونو ته تېښته ونه کړي، هغه یې زما په ضمانت بالابلوك ته راوست وروسته تر څو مودې څخه د فراه اعلی حاکم سردار عبدالرزاق خان سیمې ته راغی او د سیمې خانانو ورته هر کلی ووایه. په هغه شپه یې، چې هغه ته میلمستیا برابره کړې وه. حاکم زه هم ور وغوښتلم تر څو ما په خبره وپېژني. کتل مې، چې میلمستیا تیاره او ډیوې چندان رڼا نه کوي، یو تت الکین روښانه و، یو پلن څورب سرې په تورو چشمکو سره برسر کې ناست و او خانانو ته یې خبرې کولې.

موضوع د فقه الغت وه او سردار د فراه د پښتو په ژبه کې د دخیلو کلماتو ریښې په خپل فکر بیانولې او خانان یې ننګرهاري لهجې څخه خبرول (هغه د ننګرهار و) هغه په دې ترڅ کې نورزي بارکزی او علیزي خانانو ته وویل: "تاسې پوهېږئ، چې د افغاني قومونو تر ټولو غوره قوم محمدزی دی، چې زه هم ورپورې تړلی یم، آیا همداسې نه ده؟" سلطان محمد خان اودین محمد خان او میراحمدخان او نورو ټولو یو بل ته وکتل، غلي شول، زه وروسته پوه شوم، چې ښاغلی سردار کم سواده خو ډېر خان ښودونکی او په پوهې سره ځان سمبال ښکاره کوي او سترګې یې هم د طبیبانو په اصطلاح (خوف ضیا یعنې د رڼایي وېره) لرونکی وې، خو بیا هم هغه ډېر کم آزار سړی و. په بله ورځ بېرته فراه ته ستون شو.

بالابلوك بېرته په خپل ژور خوب کې ډوب شو. خو یو وخت یوه بله نوې پېښه وشوه او بالابلوك یې راویښ کړ. دا پېښه د کلي په خلکو باندې د خان او ملك د ظلم یوه بېلګه ده:

زما د کور تر څنګ یو شتمن بزګر ژوند کاوه، چې کلا او باغ او څو جریبه ځمکه یې لرله. دغه ځلوېښت کلن پیاوړي سړي ډېرې لږ خبرې کولې، ځوان زوی یې، چې ښکار به یې کاوه، د نمونیا د تبې له امله مړ شو، نو ځکه یواځې او ډېر غمجن اوسېد. هغه سره یې دوه بې اولاده ښځې او یوه کونډه نږور اوسېدله. دغه عبدالحمید د سیمې د خانانو چندان پروانه ساتله او علاقداري سره یې هم چندان کار نه درلود، خلکو هم ورته په یو ډول سره کتل. په تېره بیا ده به خپل نږدې ګاونډي اکا ابراهیم خپل دښمن باله، چې هغه ځوانان زامن او ځمکې درلودې، "یوه ورځ ابراهیم ویلي و، چې: "عبدالحمید د خپل تره زوی په پټه وژلی دی او د هغه ځمکې یې ورڅخه اخیستې دي. عبدالحمید په رڼا ورځ له ټوپك سره د اکا

ابراهیم باغ ته ورننوت، ابراهیم کلا ته ورغخه وتښتید او ځان پسې یې تمبه واچوله. عبدالحمید ورته وویل: زه تا نه وژنم خو د هغه تهمت او دروغجن تور له کبله چې تا راپسې جوړ کړی دی، تاویروم او په دې توګه یې خپل ټوپك د ابراهیم د غوږونو او غوږیانو خوا ته واړاوه او څو دانې یې ور وویشتلې او خپل کور ته ستون شو. ابراهیم ډېره موده غلی و. عبدالحمید یې اغفال کړ، یوه شپه چې خلك پر بامونو ویده ول، ابراهیم له خپلو زامنو سره ورغی، لومړی یوه تن د عبدالحمید د کور دیوال ته نږدې ځان څوځله ښکاره کړ او بیا بېرته په شا شو، دا مهال د عبدالحمید سپین او پیاوړي سپي ځان له بام څخه ورپسې واچاوه (د بالابولك ګومبذې بامونه ټیټ دي) او په کرنیزو ځمکو کې یې په دښمن پسې منډې کړې. یو بل راغی د پسه په زهرو لړلی ځیګر یې د سپي مخې ته واچاوه او وتښتید. سپي په زهرو لړلې غوښه (ځیګر) وخوړ او همالته مړ شو. ابراهیم د عبدالحمید د باغ په دیوال باندې، چې لږ څه ټیټ و او په کور پورې نښتی و، وخوت، په داسې حال کې چې عبدالحمید د خپلو دوو میرمنو تر منځ ویده و او ټوپك یې خوا ته و، عبدالحمید د هغه ټیټر په ښه کړ. ښځو چیغې جوړې کړې او د کلي خلك راورسېدل، زه هم ورغلم، خو عبدالحمید وژل شوی و او قاتل هم تښتېدلی و. ټول پوهېدل، چې قاتل ابراهیم دی. خو هغه وکولای شول، چې د پیسو په زور علاقه دار اړباسي، چې دې خبرې پسې ونه ګرځي. په تېره بیا عبدالحمید یو وزری و او د پوښتنې کولو څوك یې نه و.

وروسته تر دغې پېښې څخه د عبدالحمید د کورنۍ سرپرستي د هغه د تره د زوی ملا محمداعظم په غاړه شوه، چې په دې کې د عبدالحمید کونډه نږور (بختو) هم وه. د بختو د ښایست نوم په ټول کلي کې لګېده، عبدالحمید به ددغې کونډې لپاره ریباران په خپله دې سره مخامخ کول او د انتخاب حق یې همدې ته پرېښی و، دا ځکه چې کوم بل زوی یې نه و، چې بختو د رسم او دود-دستور سره سم ورته واد کړي. دغې ښځې د عبدالحمید د تره له زوی ملا محمداعظم څخه کرکه کوله، بختو د عبدالحمید له وژل کېدو څخه مخکې هیله ښکاره کړې وه، چې د علیزیو د قوم یوه شتمن ځوان سره واده وکړي. دغه ځوان دنګه ونه، خرمایي ویښتان او ددغوغنم رنګه خلکو په منځ کې سپین پوټکی درلود. هغه به له یوه لرې کلي څخه د عبدالحمید لیدلو ته راته او لکه د هغه د زوی په شان به یې ورته ځینې کارونه پر مخ بیول. بختو خپل دغه کوژدن ته یوه غاړه ګنډله او د واده ورځې یې رانږدې وې.

د کلي ملك شپیته کلن شیر محمد بارکزی له دغې کونډې سره د واده کولو په فکر کې شو حال دا، چې ویښتان یې په سپینوالي و خو ددغې شل کلنې میرمنې د واده هوس یې وکړ، دوه د مخې غابښونه یې هم لوېدلي وو او ښځه او بچیان یې هم لرل. ملا محمداعظم له ملك سره جوړ راغی اته سوه روپۍ یې واخیستې او په پټه یې بختو هغه ته ورکړه. البته بختو هېڅ خبره هم نه وه، خو ملك د هغې کوژدن څخه په وېره کې و، نومخکې تر مخکې یې د بالابلوك نوی علاقدار جمال الدین خان ننګرهاري ته پینځه سوه روپۍ ورکړې او په خپله له څو تنه وسله والو سره غلی د عبدالحمید د کلا خوا ته پټ کښېناست مازیګر مهال و، چې ملا محمداعظم بختو ته د هغې د نوي مېړه په هکله خبر ورکړ. بختو له تیکه را ایستلې توره واخیسته او له خپلې خوابنې سره د کلا له دروازې ووته او د خپل علیزایي کوژدن د کلي

په لوري روانه شوه. دا مهال ملك او د هغه ملازمانو هغه را ایساره کړه او د شاله لوري یې ونیوله. بختو د ېږي هڅې وکړې، چې ځان خلاص کړي، خو هېڅ ګټه یې ونه کړه. هغه یې له لاسونو ونیوله او په کشولو کشولو یې د ملك د کلي خوا ته بوتله. په هغه سبا د بختو نامزد له پېښې څخه خبر شو او له یو شمېر وسله والو علیزیو سره د ملك د کلا خوا ته راغلل بارکزیو هم وسله والې دفاع ته ځان چمتو کړ. دوی لا یو بل سره نه وو مخامخ شوي، چې علاقدار له څو تنو سپین ږیرو سره راغی او د دواړو ډلو تر منځ ودرېد. شفاهي د عوا پیل شوه، علاقدار وویل: بختو آزاده او بې مېړه ښځه ده هر چا سره چې وغواړي واده کولای شي، بل چاته د ممانعت حق نشته. علیزایي ځوان وویل: سمه ده. بختو له ما سره د واده پرېکړه کړې ده باید ماته راکړل شي، ملك شیر محمدهم همدا خبره وکړه، علاقدار وویل: مونږ به په خپله له بختو څخه پوښتنه وکړو، هر څوك یې چې ومنل هغه ته به یې په نکاح کړو.

په دې توګه علاقدار او یو څو سپین ږیري او مدعیان هغه کور ته ورغلل، چې هلته بختو وه. دا مهال ټولو بارکزي ښځو او نرو قرآن شفیع کړ او بختو ته یې ویل، چې له دې امله چې بیګا شپه شیرمحمد په زور سره تا سره شپه تېره کړې ده، نو علیزايي قوم به ددغې بې ناموسۍ له امله توري ته لاس ور وړي او وینې به تویې شي. ددغو وینو بهېدو ګناه به ستا په غاړه شي، که شیرمحمد ومنې، نو علیزایي به بېرته ستانه شي او هېڅوك به ونه وژل شي. بختو، چې ژړل یې د ښځو خبره ومنله او په یوه عام مجلس کې یې خپل علیزایي کوژدن ته وویل، چې شیرمحمد مې مېړه دی، بل څوك نه پېژنم. علیزایي بېرته خپل کلي ته ستانه شول او بارکزیو وسله کېښوده، خو شېرمحمد به وروسته تر دې دوو وسله والو سره ګرځېد او د هغه علیزي ځوان له غچ څخه په وېره کې و.

ورځې تېرېدې او لکه هغسې چې عادت دی، د بختو پېښه او د عبدالحمید وینه دواړه هېر شول، زموږ کلي بیا هماغه پخوانۍ سکوت او د خاموشۍ حالت ته ولاړ، موږ به هم لکه د نورو خلکو په شان د ژمي ورځې لمر ته او شپې به مو په ګومبذي سمڅو کې تېرولې، زه تر دې مهال پورې له بېوزله او بیکاره کلیوالو سره آشنا شوی وم، ما داسې احساس کاوه، چې ددغو خلکو ژوند زما تر ژوند څخه هم له غمونو او دردونو څخه ډك دی.

د پسرلي په پیل کې او د موسم په بدلیدو سره د نمونیا او یخنۍ وهلو ناروغۍ پیدا شوې، یو ناڅاپه زما ورور میرعبدالرشید ـ بیغم په دغې ناروغۍ اخته او بستر شو، حال دا چې دغه ۴۷ کلن پیاوړی ځوان ورزشکار هم و. زه له نمونیا څخه د هغه د روغېدلو په خاطر علاقه داری ته ورغلم او اجازه مې وغوښته، چې د هغه لپاره د درملو د راوړلو په خاطر د درې ورځو لپاره فراه ښار ته ولاړ شم او بېرته به راشم، له نیکه مرغه دغه علاقدار په خبره پوه سړی و. رسمي اجازه ګلیك یې راکړ او له ما سره یې یو محافظ سپور سپاهي کړ. ما د کلي له یوا ځیني سوداګر محمدرسول خان څخه یو کچر واخیست او روان شوم. محمدرسول خان به له څو میاشتو وروسته یو ځل فراه ته تللو او جرمني کوره سان، سور صندوف او تور صندوف رخت به یې راوړ او په خلکو باندې به یې پلورل، نو ځکه یې ورته سوداګر ویل. خو دا سوداګر بیسواده و او د پورونو، پلورلو او اخیستلو او قسط په معاملو کې یې غلطي کوله.

میرعبدالرشید هغه ته په ډېر خوارېو حساب او جمع او تفریق ور زده کول.
په بله ورځ زه د فراه ښار ته ورسېدم په کاروانسرای کې راکوز شوم په هغه سبا له محافظ سره یو ځای د وطني درملو په پیرودلو بوخت شوم دا مهال یو عسکر او افسر راغلل زه یې د کوتوالی قومندانی ته بوتلم. قومندان سردار غلام حیدرخان لیکلي تحقیقات پیل کړل، چې په څه ډول زه له خپل تبعید ځای څخه راوتلی یم؟ په ځواب کې مې د علاقدار رسمي سند ور وړاندې کړ. هغه سپاهیانو ته امر وکړ دغه فراري تر امر ثاني پورې (غارت) ته بوځئ. زه یې یوې تیارې ګومبذې لاندې ننویستم. هلته یو بل بندي هم و. دا مهال وپوهېدم، چې غارت توقیف خانې یا محبس ته وایي. د ورځې په مازیګر یې زه له دغه تیاره ځای څخه را وایستم او قومندان ته یې ور وستم. هغه امر وکړ، چې په همدې شپه کې به دوه سپاهیان ما بېرته بالابلوك ته بوځي، علاقدار ته به مې سپاري او (رسید خط) به راوړي. دا ځکه د اعلی حکومت کفیل د کندهار له نایب الحکومه څخه همدا ډول تیلیفوني هدایت ترلاسه کړی و (دا مهال فراه ته یو نوی محمدزی حاکم راغلی و، چې سردار عبدالصمد خان نومېده او په دغه ورځ په چخانسور کې و. د هغه کفالت د فراه د اعلی سرشته دار مرزا نور احمد خان په غاړه و او د کندهار نایب الحکومه سردار محمد داودخان) قومندان دا هم وویل، چې: "علاقدار درې ورځې کسر معاش شو او که ته بیا له خپل کلي څخه بهر ووتلې، په بندي ډول به کابل ته واستول شې."
البته ما ونشو کولای، چې هغه درمل له هټیوال څخه راواخلم، چې پیرودلي مې وو. په نیمه لاره کې راباندې شپه شوه او په یوه کلي کې مو تېره کړه. په هغه سبا بېرته بالابلوك ته ورسېدم او بېرته مو لکه د پخوا په شان هسې په نوم ژوند پیل کړ. البته په موږ باندې څارنه زیاته شوه او حاضري ورکول راباندې کلك شول. سره له دې، چې خلکو ته څرګنده شوه، چې حکومت راباندې غوسه دی، خو بیا هم له موږ څخه لرې نه شول، بلکې مینه یې راسره زیاته شوه. له همدې امله حکومت موږ ډېر ژر بالابلوك څخه د فراه ښار ته راوستلو او په سیده توګه یې تر څارنې لاندې ونیولو. تر هغو، چې زه کلي ته بېرته رسېدم، میرعبدالرشید د کورنۍ د درملنې په پایله کې له خطر څخه ژغورل شوی و.
په سیاسي تبعید ځایونو کې د همدغه ډول فشارونو له امله یو تن فراري مرزا رحمت الله خان مخفف نویس په خوست و فرنګ (د قطغن ولایت اړوند) کې ژوند ونشو کولای او د تبعید په پرتله یې د موتي سرای زندان غوره وباله، نو ځکه په دې هیله له خوست و فرهنګ څخه راوتښتید، چې بیا به یې بندي کړي، مرکز ته راغی او ځان یې پولیس ته تسلیم کړ، خو محمد هاشم خان صدراعظم هغه بندي نه کړ، امر یې وکړ، چې سپاره محافظین دې هغه بېرته خوست و فرنګ ته بوځي او کلکه څارنه دې وشي، تر څو همالته مړ شي، خو هغه مړ نه شو څو کاله وروسته وژغورل شو.
حکومت زه د ۱۳۱۵ل. (۱۹۳۶م.) په پیل کې فراه ته راوستم، خو په پخوانی فشار او څارنه کې یې کوم نرم والی رانه وست. د ورځې دوه ځله به حاضري اخیستل کېده، کله مې چې خپل شپږ او نهه کلن زامن د فراه یوائیني لومړني ښوونځي ته ور وپېژندل، د ښوونځي اداري هغوی ونه منل. دغې پېښې د هلکانو په روحیه بده اغېزه وکړه، زه پوهېدم چې د حکومت دغه ډول چلند به د هغوی په تحت الشعور کې

ځومره بده عقده (کروم) پیدا کړي، نو ځکه مې ورځخه هیله وکړه، چې دوی د ښوونځي د زده کوونکو په توګه نه، بلکې یواځې د سامع په توګه ټولګي ته پرېږدي. ځو ورځې یې پرېښودل، کله چې آزموینې رانږدې شوې، هغوی یې راوکښل. دا ځکه، چې دوی ویل چې له دې امله چې دوی ته د آزموینې پارچې نشو ورکولای، نو ځکه یې ښوونځي ته راتګ بې ګټې دي. زه یوه ورځ د زده کوونکو دلوست پر مهال ښوونځي ورغلم، کتل مې چې له ځتو ځخه جوړ ټولګي باندې اوبه پاشل شوې وې. هر ماشوم خپله کرتۍ یا واسکټونه مروړلي وو او وربانديې ناست وو او ښاغلي ښوونکي، چې په اصل کې یو هتیوال و، برسر کې ولاړ و او لوست یې ورکاوه. البته دغه خوار ښوونکی عادي لغتونه هم سم نشو تلفظ کولای. د ټولګي خوا ته د ځتو چاټۍ له اوبو ډکه ایښې وه او یوه ځتینه کوزړۍ هم ورسره وه. دا د فراه د اعلی حکومت د مرکز د زده کوونکو د اوبو د ځښلو لوښي وو.

د سیمې حکومت زه د یوه پټ جاسوس په واسطه چې عبدالصمد نومېده، څارلم او په یو ځانګړي ډول یې له خلکو ځخه جلا کولم، د بېلګې په توګه دوی زما یو ملګری محمد حسین خان فراهي له ما سره له تګ راتګ ځخه منع کړ او محمدرفیق خان هتیوال ته یې هم چې زه به کله نا کله ورسره کښېناستم، د سررشته دار مرزا نور احمد خان په ژبه پیغام ورکړ، چې مور ته راپور رارسېدلی دی، چې تا له دغه فراري ځخه یو څه پیسې اخیستې دي، نو ځکه هغه ستا په هټۍ کې کښیني، که دغه راپور کندهار ته ورسېږي، ستا شتمني به دولت ضبط کړي، دغه خوار هتیوال ډېر په خواریو په ناسیده توګه زه وپوهولم او نور یې زما د نه ورتګ عذر راته وړاندې کړ.

په دغه ډول سره زه د ۱۳۱۷ل. (۱۹۳۸م.) کال تر لومړیو پورې په فراه کې ښار کې پاتې شوم، بیا یې له هغه ځایه د کندهار ښار ته ولېږدولم. زه د همدغه کال د وري د میاشتې په اتلسمه نېټه هلته ورسېدم، وروسته له څو ورځو ځخه یو شمېر نورو سیاسي تبعید شویو کسانو سره مخامخ شوم، لکه: حاجي عبدالخالق خان او د هغه پلار، زامن او د هغه وروڼه (یو وخت د پاچا امان الله خان د مور په مامورینو کې یو مامور و)، محمد حفیظ خان او عبدالصمد خان یغماني، د هغوی له وروڼو او له کورنیو سره (دغه دواړه له افغانستان ځخه بهر د افغان ګوند غړي وو)، عبدالصبور خان غفوري، چې د کابل په ارګ کې بندي و، ژباړونکی غلام رسول خان، غلام حیدرخان مدرسې او د موتي سرای بندیان غلام محمدخان او پاینده محمد خان، عکس اخیستونکی محمد اقبال، ښوونکی شیراحمدخان، ګدای خان مجددي، د ملك میرعلم خان کوه دامنې د کورنۍ دوه زامن، د وژل شوي خواجه هدایت الله خان د کورنۍ غړي (اوښې او خورېي) د ډاکتر عبدالمجید خان ورور، یو تن کابلي د نبوره جوړوونکی او یو تن ښرۍ اوبدونکی.

تر دې مهال پورې د سلطنت ثابت او منفي سیاست په لړزېدو راغلی و، دا ځکه چې نرۍ ګام په ګام د دوهمې نړېوالې جګړې خوا ته نږدې کېده او نړۍ داسې لوري ته روانه وه، چې له وینو ډك غسل وکړي.

په دې مهال کې د کندهار نایب الحکومه ګان د محمدزیو له سردارانو ځخه یو په بل پسې بدلیدل را بدلیدل او هر یو به له نویو هدایاتو سره راته. د بېلګې په توګه د ځلوړو کلونو په ترځ کې ځلور تنه نوي راغلل او ولاړل: سردار محمد داودخان، سردار غلام فاروق خان عثمان، سردار علیشاه خان او سردار

Scanned by CamScanner

محمدقاسم خان، په کندهار کې ما یو کتاب د احمدشاه بابا په نامه ولیک. خو د تبعید تر ډېرو سختو شرایطو لاندې، ډېره کلکه خارنه وه، نو ځکه ددې امکان نه و، چې زه د هېواد اقتصادي او طبقاتي وضعیت په هکله هم یو څه پکې ولیکم. ددغه کتاب ځینې حساسې برخې د مطبوعاتو په ریاست کې تحریف شوې او د مطبوعاتو د ریاست مرستیال (عبدالحی حبیبي) ددغه کتاب چاپ د افغانستان د ګټو مخالف کار وباله. خو ده په خپله ددغه کتاب نوي تکي په خپل یوه اثر کې د احمدشاه بابا د غزلونو دیوان په سریزه کې راوستل. دغه کتاب یې د لوی احمدشاه بابا په نوم چاپ شو. (دده څو پاڼېزه اصلي نظر ماته لاسته راغی، چې زما د اسنادو په دوسیه کې راسره ساتلی دی).

کله چې وروسته بیا زه کابل ته راغلم او زما کتاب چاپ شو. د مطبوعاتو ریاست برسېره پر دې، چې د کتاب مطالبو کې تحریفات او بدلون راوست، وروسته تر چاپ څخه یې د هغه د سریزې یوه پاڼه هم لرې کړه، چې د هغې پر ځای یې یوه بله نوې پاڼه ورسرېښ کړه، دا ځکه چې ما د اصلي پاڼې په څنډه کې ددغه سرې د تاریخي لوټ په هکله خبرې کړې وې.

البته دغه ډول چلند په هغه وخت کې نوی نه و، مخکې له دې څخه د نادرشاه سرمنشي مرزا نوروزخان او وروسته بیا د پوهنې وزارت سردار نجیب الله خان هم زما د تاریخي آثارو په هکله همدا ډول چلند کړی و. د (افغانستان و نګاهی به تاریخ آن) مقالې د مرزا نوروزخان له خوا تر بدلون راوستلو وروسته کابل مجله کې خپرې دې او (افغانستان بیك نظر) په کتاب کې وروسته تر چاپ څخه د محمدزیو دوره پورې مربوط یوه پاڼه د نجیب الله خان په لاس شکول شوې ده او یوه بله نوې پاڼه دده په خوښه پکې سرېښ شوې ده، دا ځکه، چې په اصلي پاڼه کې د فتح خان د ورونو او امیر دوست محمدخان په لاس د افغانستان د بربادۍ په هکله خبرې شوې وې، حال دا، چې د امیردوست محمدخان کړوسي ښاغلي نجیب الله خان، د بهرنیو چارو سیاسي لوی مدیر. د پوهنې وزیر، د پښتونستان په مسئله کې د افغانستان او پاکستان په خبرو-اترو کې د هیئت رییس، په هندوستان کې افغاني سفیر او په امریکې کې سفیر او د دولت د ټولو سیاسي اسرارو صندوقچه وه. سره له دې، چې هغه وروسته بیا د افغانستان تابعیت پرېښود او د امریکې په متحده ایالاتو کې مېشت او همالته مړ شو.

## او د تبعید شویو برخلیک

کله، چې دوهمه نړېواله جګړه پیل شوه، د هېواد کورنی اقتصادي کړکېچ لا زیات شو، نو ځکه د سیاسي تبعید شویو کسانو په وړاندې د حکومت د ظلم او فشار چلند لږ څه نرم شو، خو سره له دې هم حکومت دوی په تبعید کې وساتل او په خپله د جګړې پایلې او پای ته رسېدو ته سترګې په لار پاتې شو، تر څو بیا وروسته خپل کورنی او بهرنی سیاست له نویو غوښتنو سره سم برابر کړي. له همدې امله یې د جګړې په پای کې تبعید شوي کسان ورو ورو آزاد کړل په دې ډله کې یو هم زه لیکوال وم، چې د ۱۹۴۴م. (د ۱۳۲۲ل.) په کب کې کابل ته راستون شوم.

البته بیا وروسته په نورو کلونو کې حکومت دغه ډله خوره وره او تر څارنې لاندې وساتله.

# پینځم
## اقتصادي او ټولنیز وضعیت

د سقوي دورې له اړ-دوړ څخه وروسته او د نادرشاهي رژیم په راتګ سره اقتصادي چارو کومه بڼه غوره کړه؟

دغه دولت د امانیه دورې مثبت بنسټونه او ټول نېه اقدامات له منځه یوړل. فیوډالي امتیازات یې بېرته را ژوندي کړل. نیمه مشروط قانون یې له منځه یووړ او یو څه سیاسي نسبي آزادي او حقوقي مساوات یې هم برباد او د ملي فرهنګ په بنیبه یې تیرور وویشتله او د بهرني ښکېلاك او کورني استبداد د مبارزینو په تتر باندې یې هم غشي وورول او ویې غوښتل، چې د منځنیو پېړیو یو ټولنیز نظام بېرته ټینګ کړي. د نادرشاه له وژل کېدو څخه وروسته، دولت د خپلواکي غوښتونکو د مبارزاتو او پاڅونونو د ټکولو لپاره د هغه سیاست په کلکه سره پر مخ بوت. همدا رنګه دولت د بریتانیا له ښکېلاك څخه په تابعیت سره د ملي ضایعو د مثبت پرمختګ مخه ډب کړه. د افغانستان یو شمېر سوداګرو او پانګوالو، چې د نادرشاه پر مهال یې خپله اصلي څېره راښرګنده کړې وه. د امتیازاتو او انحصار په ترلاسه کولو سره یې شرکتونه جوړ او سوداګري یې خپل لاس کې ونیوله او په بانکونو یې منګولې ټینګې او د استعماري سیاست او ارتجاعي دولت تر څنګ کښېناستل. ددغې ډلې پورتني قشر د دولت په واك او سیاست کې شریك شو او د هغوی د سیاست کلك ملګري شول. د افغانستان د لویو سوداګرو او پانګوالو په سر کې آزمایل شوي سوداګر (عبدالمجید زابلي) و، چې د واکمنې کورنۍ په ګډون یې د هېواد د کورنۍ او بهرنۍ سوداګري انحصار ترلاسه کړ او په کورنۍ سوداګري کې یې له ډېرې زیاتې ګټې کولو څخه وروسته، خان په ارتجاعي رژیم پورې وتاړه او په بهرنۍ سوداګرۍ کې د ګټې کولو په واسطه په بهرنیو ښکېلاکګرو هېوادونو پورې وتړل شو. یعنې خپلې دوه بدې خانګړتیاوې یې وښودې: یو د مستبد حکومت ملاتړ او دوهم د بهرنیو ښکېلاکګرو هېوادونو ملاتړ. البته دغه ډول عناصر، چې خپل هېواد یې د بهرنیو هېوادونو د مصنوعاتو په مارکیټ بدل کړي او خپل هېواد یې د بهرنیو هېوادونو لپاره د خامو موادو د خرڅلاو په بازار اړولي او له دغو لاروڅخه ډېرې زیاتې ګټې کوي، په کورني ملي صنعت کې یا د افغانستان اقتصادي اساسي ریفورم کې احساس کولو ته کوم احتیاج نه کاوه، مګر ډېر لږ او هغه هم د خپل تجارت د آسانه کولو او تنظیم کولو په خاطر. طبیعي خبره ده، چې ددغو یو شمېر پانګوالو ترلتیا له یوه استبدادي او ارتجاعي حکومت سره (په شخصي سوداګرۍ کې هغوی ته ګډون ورکول، ونډې، په بانکونو او شرکت کې را ګډول او په پای کې د هغه پانګوال کول) اړیکې او له لویو ځمکوالو او خانانو سره اړیکې (د هغوی پانګوال کېدو په

واسطه) له دلالانو سره اړیکې (د کلیو د ځمکو د لرلو او د ځمکو د پیرېدلو په واسطه)، لویو ځمکوالو سره (یو سپېڅلی یووالی راوستل) ددې لامل شول، چې واکمنه دستګاه بشپړه شي په دې توګه ددغو سوداګرو سوداګري او د لالي، سره له دې چې د پانګوالي په وده کې یې په افغانستان کې مرسته وکړه. خو بیا هم د افغاني ټولنې د پرمختګ په لاره کې خنډ شول او همداغه ډول ستونزې یې رامنځته کړې لکه د دوی ملګرو (ځمکوالو) چې پیدا کړې وې. دوی ټولو د هېواد د ملي اخلاقو او معنوي او مادي لوټ لپاره له لویو ځمکوالو، واکمنې کورنۍ او اداري لویو سترو څخه د خپلو ملاترو په توګه کار واخیست او له هغه څخه یې هر یو په جلا جلا توګه د بې سوده پور ورکولو، بډو ورکولو، سوغاتونو او په خپل دلالي تجارت کې په ونډه وال کولو کې خپل ملګري کړل. آن دا، چې د واکمنې کورنۍ ماشومانو او ښځو ته یې د کوژدې او ودونو په دودونو کې د هغوی له خوښې سره سم ګانې، ښکلي قیمتي سامانونه، جامې او نور د میلیونونو افغانیو په بیه له بهر څخه وپیرودل. تر څو چې په پای کې عبدالمجید زابلی د اقتصاد وزیر شو او ډله یې له صدراعظم محمدهاشم خان، د هغه کورنۍ او نورو ملاتړ کوونکو سره یو ځای لکه د یوې دوه اړخ لرونکې چړې په شان د افغانستان د خلکو د مادي او معنوي ژوند په زړه ورننوته، البته ددغې چړې سیاسي او اداري اړخ محمدهاشم خان و او اقتصادي یې عبدالمجید خان.

د استبدادي سیاست تر څنګ ددغه اقتصادي سیستم پایله او اغېزه د افغانستان ملت او هېواد ته څه وه؟ په کلیو او باندو کې بزګر او کروندګر مخ په بې ځمکې کېدو شول. یو بې ځمکې بزګر د خپلې کورنۍ د واده یا مړي د دود-دستور د پوره کولو لپاره اړ و، چې خپله ځمکه وپلوري. لوی ځمکوال او په کلیو کې لویو سود خوړونکو پانګوالو لکه د لیوانو په شان ورته په تمه وو، دوی به ددغه خوار کروندګر ځمکه په ګرو واخیسته یا به یې په کال کې په سلو کې له پنځوسو تر اویا سلنه پورې پورونه ورکړل. پور ورې به نشو کولای، چې د ګروي او سود پور ورکړي. پور ورکوونکي به د سیمې حکومت ته، چې د همده ملاتړ به یې کاوه، ورغی او بدمرغه بزګر او کروندګ به اړ شو، ځکه به یې وپلورله او پور به یې خلاص کړ، خو دغه پلورل او پیرودل به بې سیالي او بې له مزایدې څخه و، دا ځکه چې لوی ځمکوال، سوداګر او سود خوړونکي پانګوال به خپلو منځو کې سره جوړ وو او یو د بل ځمکه به یې نه اخیستله، نو ځکه به د پور ورې بزګر د ځمکې د بیې ټاکل ددغه پور ورکړي پانګه وال او سودخور په لاس کې و. خو بزګران له دغه ډول ښېښاك پرته په نورو ډولونو هم تر استثمار لاندې و او خپله ځمکه به یې له لاسه ورکوله. د بېلګې په توګه کله به، چې د یو کوچني بزګر یو ټوټه ځمکه د لوی ځمکوال خوښه شوه، که به کوچني بزګر نه غوښتل، چې هغه ورباندې وپلوري د لوی ځمکوال له اتباعو څخه به یوه تن په کوچني بزګر باندې د درواغو دعواه پیل کړه، د سیمې حکومت به د عادت له مخې کوچنی بزګر توقیف کړ. د بندلګښت، د کورنۍ لګښت او له دې ستونزې څخه د خلاصېدو فشار به کوچني بزګر دې ته اړ کړ، چې خپله ځمکه په ډېره ټیټه بیه وپلوري، په دې توګه به ځمکه د لوی ځمکوال لاس ته ورغله. له دې پرته به وچکالیو، سیلاوونو، د کرنیزو آفاتو او نورو. ناځاپي پېښو له امله به هم د بزګر کورنۍ اړ شوه، چې پورونه ترلاسه کړي، دغه پور به اوچت سود درلود، په پای کې به ددغو ناځاپي

پښتنو له امله هم بزګر د خپل پټي پلورلو ته اړ شو. له کوچنیو بزګرانو او کروندګرو څخه د دوی د ځمکو د له لاسه وتلو بل لامل دا و، چې د سیمې مالي ادارو به په بدې اخیستو. بیګار او بېلا بېلو مالیاتو سره د بزګر او کروندګر ملا ورماته کړه او هغه به خپله کوچنۍ او لږ حاصل ورکوونکې ځمکه وپلورله په دې توګه به د کرنیز کارګر په توګه د لوی ځمکوال په چوپړ کې اخته شو. په دې توګه لږ ځمکې لرونکي بزګران او کروندګر د بې ځمکو کرنیزو مزدورانو په ډله کې ورتلل، ورو ورو منځنۍ اندازه لرونکي کروندګر په لږ ځمکو او بیا لږ ځمکې کروندګر په بې ځمکو بدلیدل.

د هېواد پوونده، شپنو او څاروي لرونکو په برخه کې هم همدا ډول چلند روان و. لوی څاروي لرونکي هوسا وو، کوچني هغه نور هم کوچني او لا کوچنیو څارویو روزونکو خپل څاروي له لاسه ورکول او په بیکارو وګړو بدلیدل. آیا د هېواد په ښارونو، کلیو او بانډو کې ددغو پیاوړ متو او وزګارو کاري ځواکونو لپاره د کار ساحه، وسایل او د کار زمینه برابره وه؟ ددې ځواب منفي دی. په دې توګه د هېواد په سلو کې نوي وګړو دغه ډول ژوند درلود، چې ډېره برخه بوختیا یې کرنه او مالداري وه. دوی د هېواد د کرنیزو ځمکو فقط پېنځمه برخه په خپل لاس کې درلوده. په همدغو کې بیا په سلوو کې دیرش هغه کسان وو، چې هېڅ ځمکه یې نه لرله.

په وروسته پاتې افغانستان کې د بزګرو د مټ قوت د لویو ځمکوالو په خوښه په ډېره ارزانه بیه پیرودل کېده، یعنې د حاصل پېنځمه برخه به دده وه، البته تر دې مهال پورې لا هم په سلو کې کرنیزې ځمکې د یو شمېر هوسا کروندګرو په لاس کې وې. پاتې نورې کرنیزې ځمکې ټولې د لویو ځمکوالو، سوداګرو او بیوروکراتو ځمکوالو لاس ته ورغلې. د افغانستان دغه اداري او اقتصادي وضعیت د افغانستان د خلکو معنوي اصالت، اخلاقي ارزښتونه او مادي حالت ته د زهرو په شان و.

په پلازمېنه او د هېواد په نورو ښارونو کې هم خلك او منځنۍ طبقه پیشه وران لکه ترکاڼ، خټګر، لاسي صنایع لرونکي، غیر اشرافي روڼ اندي، کوچني سوداګر، ښوونکي، ټیټ رتبه مامورین، کارګران، مزدوران او بیکاران هم د کلیو تر خلکو ښه نه وو. د لاسي صنعت د کارګرانو او د ماشیني فابریکو د کارګرانو ژوند تر هغو هم بدتر و. له بهر څخه واردیدونکي استهلاکي اجناس لکه د سیلاو په شان راتلل او د هېواد دننه یې پیشه وري له منځه وړه. د اوبدلو، پڼې ګنډلو، مسګرۍ، زرګري، د کرنیز وسایلو د جوړولو کاروبار، پخلی، فرش اوبدل، د کور د لوښو جوړول او نور یې ټول له ماتې سره مخامخ کړي وو. په دغه وخت کې د هېواد دننه صنعتي تولیداتو لکه رخت، بوټانو، بوره او نورو یواځې په سلو کې پېنځلس ارتیا هم نشوه پوره کولای، پاتې د هېواد نوره پیشوري د سوداګریزو لویو کمپنیو تر کنترول لاندې، د کوچنیو کار ځایونو په بڼه د سوداګرو لاس ته ورلوېده او لوی شرکتونه ورڅخه پیاوړي کېدل. اوبدونکو به د نساجي فابریکو ته تار او نور خام توکي له همدغو کمپنیو او شرکتونو ترلاسه کول. په دې توګه د هېواد لاسي صنایع او کوچني کار ځایونه ددغو شرکتونو په کارګرانو کې شمېرل کېدل، لکه هماغسې چې د کرنې په برخه کې هم غالۍ اوبدل، د مالوچو صنعت او نور کارکوونکي د همدغو شرکتونو پور وړي کارګران و. د هېواد صنعتي کارګره طبقه ډېره کمه او د

Scanned by CamScanner

کارګرې ټولنو او اتحادیو د نه لرلو له کبله او د سیاسي تشکیلاتو د نشتون له امله او د کارګرۍ قانون او بیمې د نشتوالي له امله وار په وار تر کلك څېبناك لاندې راتلل.

یو شمېر پانګوالو ، لوی سوداګران او دلالان د ټول هېواد بهرنۍ او کورنۍ سوداګري په خپلو منګولو کې راټینګه کړې وه. له یوې خوا یې بزګران او کروندګر او له بلې خوا یې ښاري پیشه وران او متوسطه طبقه له بربادۍ سره مخامخ کوله. او په خپله وار په وار د هېواد په اداره او سیاسي واك کې ورګډېدل او د دولت مهم وزارتونه او ریاستونه یې ترلاسه کول. طبیعي خبره ده، چې د دوی سیاسي قدرت داسې یوځای ته رسېد، چې د نسب او نژاد له پلوه پخواني زاړه اشراف هم ددغو نویو راپورته شویو څېرو په وړاندې مات او د هغوی اړ شول. سوداګریزې قضیې نور نو له شرعي محکمې څخه، چې په دین ولاړې وې وو تلې او دوی ته جلا خانګړې سوداګریزې محکمې جوړې شوې، دا ځکه چې دولت د لویو ځمکوالو او لوړې طبقې، پانګوالو او غټو سوداګرو استازیتوب کاوه، ددغو طبقاتو دریغ یې لا پیاوړی کاوه.

واکمنو ورونو د نادرشاه له وژل کېدو څخه وروسته په عملي توګه دا احساس کړه، چې د روڼ اندو غوښتنې د نوي تمدن او فرهنګ او اقتصاد په ډګر کې څه دي؟ نو ځکه دوی په یو شمېر نمایشي او برسیر نو اصلاحاتو لاس پورې کړ، چې دغه اصلاحات د خلکو د دوکې لپاره او تش په نوم وو ، آن دا چې غوښتل یې چې د همدغو اصلاحاتو پایلې هم په بېلابېلو چلوټو له منځه یوسي. د بېلګې په توګه نادرشاه د خپل سلطنت، د څلورو کلونو په ترڅ کې د زده کوونکو نجونو او هلکانو شمېر له اتیا زرو څخه ۴۵۹۱ تنو ته راکم کړ. چې وروسته تر وژل کېدو څخه یې صدراعظم په څلورو نورو کلونو کې دغه شمېر یواځې ۱۸۷۷۰ تنو ته لوړ کړ.

د لومړنیو ثانوي او منځنیو ښوونځیو شمېر له ۳۵ څخه ۲۲۸ ته لوړ شو ، چې یو پوهنځی هم جوړ شو، د ښوونکو شمېر له ۱۲۵ څخه ۸۳۳ ته لوړ شو. خو حکومت ددغه معارف دښمنولو لپاره د لومړنیو زده کړو کلونه له پېنځو کلونو څخه څلور کلونو ته راکم کړل. تر څو زده کوونکي آن لږ اندازه سواد هم ترلاسه نه شي کړای (وګورئ: افغانستان در پنجاه سال اخیر رسمی کتاب) (البته دولت په دغه کوچني معارف کې د نجونو داخلېدل کفر او زندیقه بلل. په کابل کې د ساینس پوهنځی په ۱۳۱۳ل. (۱۹۳۴م) کې، څلور لومړني ښوونځ په هرات کې په ۱۳۱۵ل. (۱۹۳۶) کې، پښتو ټولنه په کابل کې په ۱۳۱۶ (۱۹۳۷) کې، یو مستعجل دارالمعلمین په کابل کې په ۱۳۱۶ل. (۱۹۳۷م) کې او همداسې هم یو تخنیکي ښوونځی په کابل کې په ۱۳۱۶ل. (۱۹۳۷م.) کې جوړ شول. له دې څخه یو کال وروسته په ۱۳۱۷ل. (۱۹۳۸م.) کې شاهي کتابتون جوړ او یو شمېر نظامي زده کوونکي د هوابازۍ په څانګه کې او یو شمېر نور نظامي محصلین ترکیې ته واستول شول او ۲۲ تنه زده کوونکي په بېلا بېلو څانګو کې اروپا او امریکې ته واستول شول او د سیاسي علومو د اکاډیمۍ په نوم یوه موسسه هم جوړه شوه. د هېواد د ګوتو په شمار ښوونځیو کې په پښتو ژبه هم درس ورکول پیل شول. د دوهمې نړېوالې جګړې تر پای پورې همدغه چلند پر مخ روان و، په داسې حال کې چې په پښتو ژبه پوره کتابونه د پښتو پوره اندازه ښوونکي او ژباړې نه وې او په مرکزي ولایتونو ، شمالي او لویدیځو ولایتونو کې د زده کوونکو

مورنۍ ژبه پښتو نه وه.

د هېواد د فرهنګ او ملي معارف په برخه کې دغه ډول پلان شویو تخریباتو سره سره نوکر پیشه جرایدو او د کابل رادیو نوې جوړې شوې دستګاه پرله پسې د افغانستان د مخ په زیاتېدونکې ترقۍ په هکله خبرې کولې، حال دا چې په پرله پسې ډول پولیس او ژاندارم او د دولت جاسوسانو په افغانستان کې استعماري تخریبي پلانونه عملي کول. په ښوونځیو کې نویو ځوانانو په نظامي روحیه په ړندو سترګو اطاعت کاوه او له وېرې ډکه روزنه یې ترلاسه کوله او رسېدلي ځوانان اړ کېدل، چې د حکومت چوپړ ته ملا وتړي. په محبسونو کې د ګناهګار او بې ګناه تورنو په هکله راز راز کړاوونه جاري وو. ظالم او خاین واکمن ستایل کېدل او بې آزاره او معتدل مامورین تر قهر لاندې راتلل او له دندو لرې کېدل. افغاني ټولنه ورځ په ورځ د بېوزلۍ، نفاق او ناهیلیو کندې ته غورځول کېدله. د ژبني سیمه ییز، مذهبي او آن کورني نفاق اور ته پکې وهل کېدل. په هر ترتیب، د محمدهاشم خان د حکومت ظاهري ریفورم د پوهنې او مطبوعاتو په ډګر کې محدود پاتې نه شو، هغه په روغتیایي برخه کې هم یو څو روغتونونه په ګردیز (۱۹۳۵ل. کې)، کندز، بغلان او کابل (علي آباد) کې جوړ کړل او د غابښ جوړولو یو کورس یې هم په ۱۹۳۹م. کې د کابل د نسوانو په سناتوریم کې دایر کړ. دولت د اندرابي جاده د شاه دوشمشیرې له پله څخه د شاهي تر پله پورې او د حربیه وزارت جاده یې دارګ تر ختیزې دروازې پورې د څو سوه مترو په اوږدوالي په تیږو فرش او پوخ یې کړ. دغه څو کوچني ګامونه د حکومت له خوا د پېنځو کلونو (له ۱۹۳۳ څخه تر ۱۹۳۸) په ترڅ کې ترسره شول. البته محمدهاشم خان د هېواد په سوداګرۍ کې په منفي بڼه د پیسو د ګټلو په لاره کې ډېره هڅه وکړه. د دغې سوداګرۍ د پرمختیا بنسټ د نادرشاه په دوره کې په ۱۹۳۰ کې د یوه سهامي شرکت په جوړولو ایښودل شوی و (دغه شرکت د راتلونکي بانك زړی و). په ۱۹۳۳م. کې په کندهار کې د پښتون سهامي شرکت جوړ شو. په ۱۹۳۲م. کې د نساجي سهامي شرکت جوړ شو. هاشم خان په ۱۹۴۰م. کې د جبل السراج د اوبدلو فابریکه چې په ۱۹۳۷م. کې یې بنسټ ایښودل شوی و، وپیروده. له دې څخه یو کال مخکې یې (په ۱۹۳۲م کې) د وطن په نوم یو شرکت په کندهار کې جوړ کړ. په ټول هېواد کې یو څو د ګوتو په شمار دغه فابریکې جوړې شوې: د جبل السراج د اوبدلو فابریکه (په ۱۹۳۷م. کې) د کندز د تیلو ایستلو فابریکه (په ۱۹۳۹م. کې)، د پلخمرې د اوبدلو فابریکه (په ۱۹۴۰م. کې)، د کندهار د اوبو د برېښنا اوورۍ اوبدلو فابریکه (په ۱۹۴۳م. کې) او د بغلان د بورې فابریکه (په ۱۹۳۸م. کې)

د نړېوالې دوهمې جګړې له پای ته رسېدلو څخه یو کال مخکې کله چې زه د دغه کتاب لیکوال له تبعید ځای څخه بېرته کابل ته راستون شوم، کابل او کابلیان د پېژندلو نه وو. د اختر په ورځو کې د پخوا برخلاف په سلو تنو کې یواځې ایله یو تن کولای شول، چې نوې جامې واغوندي. د سراچې میلمه، موسمي میلمستیا او نور نومونه د خلکو له ژبو لوېدلي وو، ټولې تفریح او ساعت تیرۍ، لوبې، پهلوانۍ د چوب بازۍ لوبه، په بازار کې کیسې ویل او د کابل ښار د اضافو میلې ټولې له منځه وړل شوې وې. د کابل له هېڅ کوڅې څخه د ساز اواز نه اورېدل کېده، د کابل ښار زیناترو سازیانو او

Scanned by CamScanner

سندرغاړو د لرګیو پلورلو او نورې هڅې پرانیستې وې او په لرغوني خرابات کوڅه کې یې پرچون پلورنې کولې. ما په خپلو سترګو ولیدل، چې وروسته د ماښام له تیارې څخه به ډېرو پتمنو او درنو خلکو دروېزه کوله او د ژمي په شپو کې به کارګرانو او ټیټ رتبه مامورینو له یوه سطل سره د حمام لویو نغریو ته ورتلل او په لږ پیسو یې یو څه تودوه ایرې خپلو صندلیو ته وړلې، چې ښځه او ماشومان یې تاوده شي. واکمن رژیم ددغو خلکو له لیدلو څخه چې یو وخت یې د بهرني دښمن زرګونه عسکر له منځه وړي وو، خوند اخیست او ددغې بېوزلۍ له امله یې غوښتل، چې ځوانان اخلاقي بېلاریو، غلا، جوارګرۍ او که ممکنه وي جاسوسۍ ته اړ کړي. په همدغه ډول شرایطو کې د پتمن کار او شغل وسایل او امکانات، فابریکې او موسسات کم او ورک وو، خو اداري ګواښ او ویره موجوده وه. نارینه به زړو جامو او جړو بړو ویښتانو او ښځو به شلیدلو چادري ګانو (برقو) او ماشومانو به په لوڅو پښو په پټه خوله، ګنګس او سربداله یو خوا بل خوا ګامونه اخیستل او یو مړی ډوډۍ پسې به روان وو او د شپې به بېرته خپلو کورونو ته راتلل. نور نو هېڅ ممکنه نه وه، چې څوک د انګرېزانو د غدر، خیانت او د هند د انګرېزانو له جاسوسۍ څخه خبرې وکړي او یا هم د حکومت د ظلم او بدې اخیستو څخه یادونه وکړي. آن دا چې د اردو افسران او د دولت ټیټ رتبه مامورین، چې ژوند یې په سجل کې د یوې ما فوق کلمې په لیکلو پورې تړلی و، د ضبط احوالات یوه راپور کولای شول، چې د دوی ژوند ورڅخه واخلي. دوی له هر مجرم څخه هم چپ او مطیع وو او د خپلو آمرینو د شخصي نوکرانو په توګه شوي وو، نور نو د دولت په نزد شخصي شرف او د یو چا پت، عزت نفس او وظیفه پېژندنې کومه معنا نه لرله، خو آمر ته انقیاد هرشی و او بس. په عمومي توګه خلکو ځانونه له هر ډول حقوقو څخه بې برخې، غمجن، مایوس او وېرېدلي ګڼل. لکه د کوم پردي هېواد لښکرو چې د دوی هېواد نیولی وي او د دوی ټول واک یې خپل کړی وي. د استبداد او ځبیناک په ضد د خلکو پاڅونونه وځپل شول، د بېلګې په توګه د کندهار په زمیندارو او د ننګرهار د ساپیو قیام، چې په ډېره ظالمانه بڼه وټکول شول. د هېواد د شمال ولایتونو، د پکتیا د غلزیو، د کوه دامن او کوهستان پاڅونونه هم غلي کړل شول. دا مهال داسې احساس کېده، چې په څه ډول سره یو فاسد اقتصادي نظام له یوه مرتجع او استبدادي نظام سره یو ځای په لږ وخت کې کولای شي، چې یوه نشاط لرونکي او رسېدلې ټولنه اقلاً په ښارونو کې په یوه ناهیلې، بدبین او سربداله ټولنه بدل کړي. دغه ټول مادي او معنوي انحطاط سلطنت د پېنځلسو کالو په کمه موده کې په تیره بیا په پلازمېنه کابل کې ترسره کړ. نوی نسل دغه ټولې بدمرغۍ یوه طبیعي خبره ګڼله او په یوه غیر شعوري ډول سره یې د یوه تیاره او له ظلم څخه ډک سبا په لوري ګام اوچتاوه.

نور نو ښارونه او ټول هېواد د افغانستان د خلکو مال نه و، بلکې د واکمنې کورنۍ او د ښکېلاکګرو او هندوستاني جاسوسانو لوبځای او د لویو سوداګرو او ځمکوالو، د ضبط احوالات د مامورینو او لوړ رتبه مامورینو د واک چلولو سیمه وه. ګڼ شمېر بې سواده خو شر اچوونکي او کورنۍ پورې تړلي کسان او یو شمېر بهر پورې تړلي را میدان ته شوي وو او د افغانستان د خلکو په پت او عزت باندې یې مسخرې کولې. د دوی زړورتیا دومره زیاته شوې وه، چې د بېلګې په توګه هندوستاني بیطار ډاکټر

Scanned by CamScanner

نقیر محمدخان افغاني افسران او فرقه مشرعلي دوست خان (چې له هند څخه نوی راغلی و) د افغانستان د یوه مرکزي ولایت مخور په څرګند ډول د انګرېزانو (یوه بهرنی دولت) چوپړ ته رابلل. البته هغه چا چې نه منله هغوی به یې له دندې ګوښه او یا به هم زندان ته اچول کېدل. د بېلګې په توګه فرقه مشر سید حسین خان، غونډ مشر محمدعمرخان، نایب سالار سیداحمدخان، غلام نبي خان چپه شاخ، فرقه مشر فتح محمدخان، ابراهیم خان ګاوسوار او داسې نور همداسې شول.

کله چې د افغانستان ملت دغه توري ورځې په خپل هېواد کې دننه تېرولې، د نوې نړۍ په لویه برخه کې عمومي جګړه پیل شوې وه او لمبې یې پورته شوې وې، چې د ختیځ او لویدیځ هېوادونو راتلونکي او برخلیک په هغې پورې تړلی و.

په دې کې یو هم د افغانستان دولت و، چې نوې نقشې یې درلودې، تر څو وکولای شي، چې دوو دښمنو ډلو څخه د یوې ډلې په بریالي کېدو سره، د خپل واک د دوام په خاطر خپل کورنی او بهرنی سیاست دفاتع او بریمن لوري له چلند سره سم برابر کړي او خپله کورنۍ تګلاره وټاکي. په دواړو حالاتو کې واکمنې کورنۍ ویتېیله، چې وروسته تر شپاړس کاله چاڼ څخه به هېواد کې دننه خلکو سره روغه جوړه او نرم چلند پیل کوي او د خپل واک پایښت به د تورې په زور نه، بلکې په دوکه او د خلکو په غولولو پر مخ بیایي. دولت په تمه و، چې د یوې پېړۍ د دربېمې برخې له تیرېدو وروسته به د افغانستان اوسنی نسل له منځه ځي او نو نسل به له دغه رژیم سره عادت شي، خو سلطنت نه غوښتل، چې خپل دغه نوی نظر په هماغه زړې او پخوانۍ تګلارې سره یو ناڅاپه اجرا کړي. دا څکه چې د افغانستان د خلکو له غبرګون څخه په وېره کې و. نو ځکه یې وغوښتل، چې ورو ورو او په تدریج سره پخوانۍ اداره او چلند بدل کړي. له همدې امله کابینې او په خپله محمدهاشم خان د نړېوالې جګړې تر پای ته رسېدلو او د نړېوال وضعیت تر روښانه کېدو پورې په واک کې پاتې شول، حال دا چې تر دې مخکې داسې پرېکړه شوې وه، چې هغه به له خپلو نامتو نورو ملاتړو سره لرې کېږي او ځای به یې ددغې کورنۍ ځوانانو ته سپارل کېږي. دا څکه چې دغې کورنۍ غوښتل، چې د مرګ تر وروستیو شېبو پورې به د عمل نوښتو نه ټول په خپلې کورنۍ پورې تړلي وساتي، له همدې امله سلطنت بل هېڅ سر او بل وتلی نوم په هېواد کې نه پرېښود. آن هغه څېرې یې نه پرېښودې کومو، چې د دوی لپاره سربښندنې کړې وې او د دوی په نقشو کې یې برخه اخیستې وه. حکومت له یوې خوا د محور هېوادونو د بریالیتوب په صورت کې یو فاشیستي تاریخ او ترانه ترتیب کړې وه او د نژادي اوچتوالي ادعا او آریانا پالنه یې رامنځته کړې وه، له بلې خوا یې د متفق هېوادونو د بریالیتوب په صورت کې د لویدیځې دیموکراسۍ خبرې کولې، خو له دې ټولو سره سره یې د افغانستان تر څنګ د انګرېزانو د امپراتورۍ د ماتې له امله ډېره وېره لرله، هغه امپراتوري، چې دوی ورباندې ډډه لګوله او د منځنۍ اسیا د ارتجاعي حکومتونو ملاتړې وه، تر څو چې جګړه پای ته ورسېدله او په اروپا کې د ایټالیا فاشیزم او هټلري نازیانو دیکتاتوري ګانې په پریکنده ډول له ماتې سره مخامخ او په اسیا کې هم د جاپان نظامي دکتاتوري تسلیم شوه او ۱۹۴۵م. کال په ټوله نړۍ کې یو بیساري بدلون راوست.

# شپږم

# د دوهمې نړیوالې جګړې په دوران کې

# له ۱۳۱۸- ۱۳۳۴ل. پورې

## (۱۹۳۹- ۱۹۴۵م.)

په اروپا کې، چې خامخا به یې په ختیځ باندې غوره اغېزه لرله، وروسته تر لومړۍ نړیوالې جګړې څخه، نوي او لوی بدلونونه راغلل، دغو پېښو او بدلونونو خامخا نړۍ یو ځل بیا یوه بل نړیوال جنګ ته ورټېل وهله. په دې کې یوهم اقتصادي کړکیچونه وو، چې اروپا یې تر ګواښ لاندې راوستې وه، آن دا چې امریکا هم په داسې یوه کړکیچ کې اخته وه. له بلې خوا د لومړۍ نړیوالې جګړې مات شوي هېوادونه (چې اوس پیاوړي شوي وو) له یو شمېر نورو پیاوړو هېوادونو سره په نړۍ کې د خپل واك د ساحې د بیا ویشلو په فکر کې وو، نو ځکه دوی ته ددغې موخې ترلاسه کېدل د یو بل جنګ په ترڅ کې کېدای شو. نو ځکه د جګړې په لټه کې شول. د اروپا ډېر افراطي او بنسټپال نیشنلزم هم په ډېره یوه خبیثه بڼه راڅرګند شو، یعنې هغه نشنلزم چې د پلرني هېواد دفاع پر بنسټ ولاړ و، هغه اوس په نورو هېوادونو باندې د تیري کولو په نشنلزم باندې بدل شو او له هغه څخه نوی پیدا شوي او زړېدلي خونړي بچي په اروپا کې نوې دیکتاري ګاڼې وې. له دې څخه وروسته نور نو د هیومانیزم او بشر پالنې کلماتو له نړیوالو آدابو او مناسباتو سره یو ځای خپل اصلي مفهوم د نړیوال سیاست په قاموس کې له لاسه ورکړ. په تېره بیا کله، چې د نړیوال سیاست د لوبه کوونکو په لومړي کتار کې د هټلر او موسولیني په شان خلك راغلل او په قهر او زور سره ي سیاسي درېځونه ترلاسه کړل.

د فرانسې دولت د لومړۍ نړیوالې جګړې د پای ته رسېدلو له هماغه پیل څخه رادې خوا نه یواځې دا، چې توره بېرته په تیکې کې نه کېښوده، بلکې ځان یې په پولادو او وسپنو کې ډوب او پټ کړ، د جاپان دولت هم د مانچوکو د یوې نوې امپراتورۍ په جوړولو سره یوه نوي جنګ ته په دوو پښو چمتو ولاړ و. شوروي اتحاد په چوپه خوله خپلو وسلو کې ډوب و. انګلیسي دولت سره له دې، چې دا مهال له نورو هېوادونو څخه ډېره شتمني ترلاسه کړې وه، نو ځکه بلې جګړې ته اړ نه و، بلکې بلې جګړې کولای شول، چې د هغه دغه شتمني له ګواښ سره مخامخ کړي. خو بیا هم له ۱۹۳۳م کال څخه وروسته یې ورو ورو ځان یوه بل نړیوال جنګ ته چمتو کاوه. د امریکې متحده ایالات چې لا تر اوسه دې مهال پورې خپل کورني اقتصاد او د خپل هېواد په اقتصادي کړکېچونو کې رخته وه، لوی نظامي ځواك یې په واك کې و او کولای یې شول، چې په داسې جګړه کې برخه واخلي، چې د اروپا بر خلیك بدل کړي.

جرمني په لومړۍ نړیوالې جګړې کې له ماتې څخه وروسته د مادي او معنوي شرایطو تر اغېزې لاندې

د بر ژر د نازیزم یا نیشنل سوسیالیزم د فاشیستي رژیم تر اداري او واک لاندې راغلې وه او د نړۍ د تاریخ یو د بر غټ او خطرناك لیونی یې د لارښود په توګه رامخته شو. آدولف هیټلر او د هغه نازي ګوند دغه نړېوال ستر ځواك چې نه یواځې په اروپا کې، بلکې له سمندرونو څخه پورې غاړه یې د انګرېزي امپراتورۍ سره د سیالۍ د غرې وهلې، نړۍ یې د جګړې په لوري ټیل وهله او دغې جګړې نړۍ ته بیساري ټکان ورکړ. په لرې ختیځ کې پیاوړي جاپان او په جنوبي اروپا کې فاشیستي ایتالیا هر یوه د خپلو ځمکو پراختیا غوښتله. نو ځکه له هیټلر سره په یوه لیکه کې ودرېدل او یو ځل بیا یې ودانه نړۍ په وینو او خاورو ولړله تر څو، چې دوی خپله له ماتې سره مخامخ شول. البته دلته په دغه کتاب کې د دوهمې نړېوالې جګړې موضوع مطرح نه ده، بلکې غواړو د دغې جګړې اغېزه د نړۍ پر راتلونکي سیاست او له هغې ډلې څخه د افغانستان په راتلونکي باندې وښیو. په مرکزي اروپا کې د سیمه ییزو بریدونو له هماغه پیل راهیسې د افغانستان دولت د یوې سترې جګړې له پېښېدو څخه وویرېد، چې خپل نږدې ښکېلاکګر دوستان یې هم د هغې له ګواښ سره مخامخ وو. دا ځکه چې په لومړنۍ نړېواله جګړه کې د جرمني دولت په ټول افغانستان کې د انګرېزانو د دښمن په توګه د بر مشهور او خلکو ته ګران شوی و. له بلې خوا د افغانستان ملت، د هېواد موجوده رژیم په لسو کلونو کې له دغه رژیم څخه د بر ځورېدلي و او کرکه یې ورڅخه پیدا کړې وه، نو ځکه د یوه ښه فرصت په کمین کې و. «د بېلګې په توګه د نړېوال جنګ په ورځو کې د ۱۹۴۴م.) په اپریل کې د پکتیا ځدراڼ د سلطنت په ضد راپاڅېدل او د همدغه کال د مې تر میاشتې پورې یې خپل پاڅون ته دوام ورکړ، یو کال وروسته بیا د ۱۹۴۵م. کال په نوامبر کې د هېواد په ختیځ کې د کونړ خلکو وسله وال پاڅون وکړ، خو دولت په عصري وسلو سره دغه دواړه پاڅونونه وځپل) د شوروي اتحاد پر خاوره باندې د هټلري ځواکونو له لیونتوب څخه ډك برید او د امریکې په بېړیو باندې یې یرغلونو، د جګړې برخلیك بدل کړ، نو ځکه د تیري کوونکو هېوادونو ماتې حتمي شوه. د جګړې په دوران کې ایران د لنډ وخت لپاره د متفقینو د ځواکونو په لاس ونیول شو، د هندوستان د خپلواکي غوښتونکو مبارزینو هلې ځلې، ناهیلې شوې او افغانستان عملاً د انګرېزانو تر واك او اغېزې لاندې پاتې شو، خو د افغانستان دولت په داسې یوه موقع کې نشو کولای، چې د هېواد د وګړو د نظریاتو برخلاف په ښکاره ډول سره د انګرېزانو پلویتوب وکړي.

دوهمه نړېواله جګړه د ۱۹۳۹م. کال د سپتمبر په دوهمه پیل او افغانستان د ۱۹۴۰م. کال د اګست په ۱۷مه نېټه په رسمي توګه خپل ناپېیلتوب اعلان کړ، نو ځکه جرمني اتباع په خپلو دندو کې لکه د پخوا په شان بوخت پاتې شول، انګلیسي دولت غوښتل، چې جرمني اتباع د افغانستان د دولت په لاس له افغانستان څخه وباسي، خو د افغانستان دولت دا ډول کار په خپل سر نشو کولای او نه یې شو کولای، چې خلك نور هم ورڅخه ناخوښه شي، نو داسې یوه لاره یې جوړه کړه، چې ددې موخې لپاره یې بهانه ورته پیدا شي. په ۱۹۴۱م. کال کې د محمد یعقوب خان سکاوت په واسطه په افغانستان کې د استخدام شویو جرمنیانو سره سیاسي او لمسوونکې اړیکې ونیول شوې. جرمنیان د انګلیس ضد فعالیت په تمه د افغانستان ختیزو پولو خوا ته روان شول او له کابل څخه پکتیا ته له محمد یعقوب

Scanned by CamScanner

سکاوت سره وتښتیدل. دولتي ځواکونه ورته مخکې تر مخکې په لوګر کې ولاړ او دوی یې په لوګر کې ایسار او له ښځه یې جارو کړل. محمد یعقوب خان سکاوت هم په همدې سزا یو څه موده په کابل کې بندي شو. څه موده وروسته هغه له بند. څخه خوشې شو ورپسې یې په پاکستان کې یوه نوې دنده ترلاسه او د پاکستان په رادیو کې یې د افغانستان د سیاست په ضد تبلیغ پیل کړ او د پښتونستان د مسئلې په اړه یې تبلیغات کول،خو ورور یې په کابل کې په سرچپه توګه همدا دنده لرله، یعنې د پاکستان په ضد یې تبلیغ کاوه او دغه سیاسي جنګ روښانه شو او همداسې بل وساتل شو.

په هر حال، له کابل څخه د څو تنه جرمنیانو تېښته او د هغوی فعالیت ددې لامل شو، چې له افغانستان څخه د ټولو جرمني اتباعو د ایستلو لپاره بهانه پیدا شي، خو د افغانستان حکومت په یوا ځیتوب سره ددې کار ټول مسئولیت په غاړه نه شو اخیستلای، نو ځکه یې یوه لویه دودیزه جرګه په همدې (۱۳۴۱) کال په کابل کې جوړه کړه، دا ځکه چې یوا ځې د جرګې پرېکړې کولای شول، چې دولت سره د طبقاتي سیاست په تطبیق کولو کې مرسته وکړي، حال دا چې د شوروي او انګلیس دولتونو وړاندیز لا د مخه کابل ته سپارل شوی و، چې په هغه کې له افغانستان څخه د ټولو جرمني اتباعو ایستل غوښتل شوي وو. شوروي اتحاد په دغې غوښتنه کې په هغه ترون باندې ډډه لګوله، چې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ ناپېیلتوب او یو پر بل د نه تیري په اړه په ۱۹۳۱ کې لاسلیك شوی و. د افغانستان جرګې د ۱۹۴۱م. کال په نوامبر کې په دغه جګړه کې د افغانستان ناپېیلتوب تصویب کړ. د افغانستان دولت د انګلیس او شوروي اتحاد د دولتونو له یادداشت سره سم د ۱۹۴۱م. کال په اکتوبر کې استخدام شوي جرمني اتباع د شوروي اوانګلیس له خوا د هغوی د مصئونیت له تضمین سره یو ځای له افغانستان څخه ایستلي وو.

له دې امله، چې د جګړې موده اوږده شوه او لا یې هم پریکنده پایله نه وه څرګنده. د انګلیس دولت سیاسي واك په افغانستان کې د صدراعظم محمدهاشم خان په لاس د حفظ ما تقدم په توګه لا نور هم له هر ډول اختلاف څخه ساتل کېدو او واکمنه کورنۍ د انګرېزانو تر دایمي ګواښ لاندې وه، آن دا چې یوه ورځ د هېواد د ناپېیلتوب تر نقاب لاندې د حربیه وزارت په سینما کې د متفقه په وړاندې د جرمني د فاتحانه جګړې یو فلم وښودل شو، په هغه سبا باندې د بریتانیې د سفارت نظامي آتشه په بایسکیل باندې د حربیې وزارت ته راغی او پرته د مخکنې خبرتیا څخه د حربیې د وزیر شاه محمودخان د کار دفتر ته ورننوت، په مجلس کې حربیه وزیر، د ارکان حرب لوی رییس محمدعمر خان ابوي (چې وروسته بیا د پاچا سرمنشي، بیا حربیه وزیر او په پای کې په هند کې لوی سفیر شو) او څو تنه د بېلا بېلو څانګو افسران د رسمي چارو له دوسیو سره ناست وو. د انګلیس د سفارت نظامي آتشه د شاه محمودخان د میز په وړاندې ودرېدد او ویې ویل: تاسې ناپېیلي یاست، خو د بریتانیا د دښمن هېواد پروپاګنډې فلمونه ښکاره کوئ. دا خبره یې وکړه او بېرته ستون شو. شاه محمودخان پرته له دې، چې څه وواییِ،چپ پاتې شو خو په هغه سبا ټوله سینما له سامانونو څخه تشه شوه او د ترمیم په نامه تر کار لاندې ونیول شوه، بیا پکې فلم او د سینما پرده تر سترګو نه شوه. همدا رنګه یوه ورځ محمدهاشم خان د

Scanned by CamScanner

الله نوازخان د ودانۍ د کار د نه بشپړېدو له امله په غوسه و، چې دا وخت الله نواز غایب و. نو هاشم خان د کار وروسته پاتېوالی وغانده، مسئول مامور ځواب ورکړ، چې د الله نواز خان په نشتوالي کې اړوند چارې شاه جي پر مخ بیایي او د هغه وکالت کوي. صدراعظم بې کتنې وویل: شاه جي ته وواياست چې د ودانۍ کار دې ژر بشپړ شي، همدا شیبه شاه جي راپیدا شو، د صدراعظم خبرې یې اورېدلې وې، نو په غوسې سره یې صدراعظم ته وویل: زه په خپله خپله دنده پېژنم، هېڅوک په افغانستان کې نشي کولای، چې ماته دنده وښيي. په کومه ورځ چې زه پوه شم، چې خپله دنده مې نه ده اجرا کړې، ځان به په تفنګچې ووژنم، صدراعظم وغوښتل، چې په زاریو زاریو عذر ورته وکړي او ورته ووايي، چې مطلب یې سم نه دی پوهولی، خو هغه د صدراعظم خبرو ته غوږ ونه نیو او ولاړ.

دا یواځې نه، د انګلیس سفارت د جګړې په دوران کې له صدراعظم څخه یوه موافقه ترلاسه کړه، چې په کابل کې به د بریتانیا د سفارت تر څارنې لاندې د انګرېزانو د جاسوسۍ یوه دستګاه په ټول افغانستان کې د کنترول کولو لپاره د جګړې تر پای نه رسېدو پورې تاسیس شي. ډېر ژر دغه ډول دستګاه په ډېره اسانه توګه د افغانستان له ساده او ناپوهو اشرارو څخه جوړه او په هغې کې لس لس تنه د یوه تن (دهباشي) تر مشرۍ لاندې د ښارونو په مهمو برخو او د لویو لارو تر څنګ او په کلیو کې وګومارل شول. دهباشیان سواد لرونکي وو او خپل معاش او د خپلو لاس لاندې کسانو معاشونه به یې د بریتانیا د سفارت له استازیو او مامورینو څخه اخیستل د افغانستان دولت دغو عمالو ته په فعالیت کې آزادي ورکړې وه او په امن کې وو. د دوی کار دا و، چې په خپلو سیمو کې خبرو ته غوږ ونیسي او ښېښې وخاري او دهباشي ته راپور ورکړي، بیا انګرېزانو ته ددغو راپورونو رسول د دهباشیانو دنده وه. په پیل کې دا یوه آسانه دنده وه. د بېلګې په توګه جاسوس به د یوې الوتکې د تیرېدلو، د یوه مامور یا کوم مسافر د تیرېدلو، د یو چا د یو کلي په هکله، د جګړه کوونکو دولتونو او د جګړې په هکله د یوې سیمې یا د وګړو د نظرونو په هکله هره ورځ دهباشي ته راپورونه ورکول، دهباشي به هغه اصلي مرجع ته رسول. وروسته بیا دغې دستګاه پرمختګ وکړ او د جاسوسۍ او د انګرېز ضد جاسوسي په یوه منظمه اداره باندې بدله شوه، چې آن په خپله د افغانستان په وړاندې یوه دښمنه دستګاه ورځخه جوړه شوه. د ویلو اړتیا نشته، چې وواېو چې محمدهاشم خان په دغه بیساري عمل سره هېواد په معنوي توګه د دښمن تر دومینون لاندې راوست او ملي اخلاق یې د اوږدې مودې ګواښ لاندې راوستل، حال دا چې په شروع کې هېڅوک هم د دغه پټ او غلي خیانت څخه نه وو خبر، یواځې د انګرېزانو لوی عمال او جاسوسان او واکمنه کورنۍ له دغه سر او راز څخه خبره وه او بس. د واکمنې کورنۍ یو خپلوان عبدالحسین خان عزیز له دغو اسرارو څخه خبر و، د هغه بندي شوی زوی عبدالحی خان عزیز، چې وروسته بیا د وطن ګوند غړی شو او اوس دا دی د ګوند له ۱۲ تنو غړو سره سیاسي بندي دی. (۱۹۵۲م.) ماته یې دغه اسرار وویل، خو ددغې خبرې آوازه لږ پخوا هم د روڼ اندو تر منځ خپره وه.

وروسته تر هغه، چې نړېواله جګړه پای ته ورسېده او په کابل کې د جرمني سفارت وتړل شو (۱۹۴۵م. کال د مې میاشت)، او له دې څخه بیا دوه کاله وروسته انګلیس دولت اړ شو، چې هندوستان پرېږدي، خو

سره له هغه د دوی پخوانی دغه جاسوسي د ستګاه روغه-رمټه د میراث په توګه د پاکستان دولت ته د میراث په توګه ورپاتې شوه. ما په هماغه کال (۱۹۵۲م.) کال د کابل ولایت په سیاسي زندان کې دغه ډول محلي جاسوس (مرزا حسین) ولید، چې د خپلې راتلونکې له امله په وېره کې و. دغه سړی په هغو ورځو کې چې د افغانستان او پاکستان تر منځ سیاسي تاو تریخوالی پېښ شو، هر ماښام به د نوي ښار پارك ته ورغی، د پاکستان د هغه مهال د سفارت مخامخ بڼ کې به د دیوال اړخ ته د متیازو کولو په بهانه کښېناست، ډېر ژړا به د پاکستان د سفارت له دروازې څخه یو سپی راووت. بڼ ته به ورغی او ژر به بېرته راستون شو. ددغه سپي په غاړه کې به تل یو څرمین غړوندی و له دې امله چې د پاکستان سفارت د افغاني پټو پولیسو تر څارنې لاندې راغلی و نو ددغه سپي وتلو- ننوتلو د هغوی پام ځانته راواړاوه، ډېر ژر یې دغه سپی او مرزا حسین له هغه راپور سره ونیول، چې د سپي په غړوندي کې یې ایښی و او دغه سړی یې محبس ته واچاوه. دا مهال څرګنده شوه چې مرزا حسین د انګلیسي جاسوسی دستګاه یو تن و، چې دغه دستګاه پخوا په افغانستان کې جوړه شوې وه او اوس یې پاکستان ته خدمت کاوه.

په هر حال، د نړیوالې جګړې په ورځو کې محمدهاشم خان افغانستان داسې د جاسوسی او څارنې تر کنترول لاندې راوستلی و، لکه افغانستان چې کوم خپلواك او ناپیېلی نه وي او دارالحرب یوه برخه او یا هم د انګلیسي هند یوه برخه وي، د هېواد حمل او نقل په ټولو تم ځایونو کې د ضبط احوالات د ریاست استازي ولاړ وو. هر هغه چا، چې غوښتل د هېواد له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته ولاړ شي، باید هغه وپېژندل شي او د ضبط احوالات د ریاست له خوا ورته اجازه ورکړل شوې وي، که نه پرته له هغه به له تګ او ګرځېدو څخه راستنول کېدل. د بېلګې په توګه محمدصالح خان مجددي غوښتل، چې لوګر ته د خپلو ځمکو ته د لیدلو لپاره ورشي، هغه یې له سرویس موټر څخه راکوز کړ. همدا رنګه یې میر محمدشاه خان صدیقیان، چې کندهار ته د خپل زوی واده ته روان و، د سفر کولو څخه راوګرځاوه.

په دغه ډول یوې سیاسي او اداري فضا کې زه په ۱۹۴۴م. کال کې د کندهار له تبعید ځای څخه کابل ته راوغوښتل شوم، په داسې حال کې کې لس کاله زه د افغانستان له اداري او د سیاست له مرکز څخه لرې ساتل شوی وم، نو ماته ددغه نوي حالت او پردې فضا لیدل، چې د انګرېزي ښکېلاك او د موجوده سلطنت د استعماري سیاست د څوارلس کلنو تخریبي پلانونو پایله وه، راته ډېره سخته او زما په زړه باندې لکه د اور د یوه غشي په شان یو ګوزار و، دا ځکه چې د کورني استبداد او بهرني ښکېلاك سیده اغېز یې د هېواد د پلازمیني په روڼ اندو او د ځوان نسل په معنویاتو او فکر باندې او په نورو ټولو مادي برخو کې له ورایه لیدل کېدې. په دغه ډول فاسدو ټولنیزو شرایطو کې رالویو شویو نویو ځوانانو څخه یو شمېر یې د دولت د خیانت او دوکې له امله د تخویف، تلقین او تطمیع په وسایلو سره له کرکجن او بوین نظام او واکمنې دستګاه سره یو ځای کېدو ته تېل وهل کېدل. هېڅ ځوان به له دندې سره د نه علاقې له امله او د ناوړه اعمالو له کبله مسئول نه بلل کېده، خو له سیاست سره د اړیکو له کبله به خامخا تر پوښتنې لاندې راته. په داسې حال کې، چې په ټول هېواد کې مبارز عناصر خپل شوي او ورك شوي وو، له هغوی څخه نور پاتې یې د لیونتوب د استازیو او د عبرت د لومې په بڼه عامه انظارو ته

Scanned by CamScanner

ښودل کېدل.
د پوهنې، مطبوعات، حربیې او بهرنیو چارو وزارتونو هغه شمېر ځوان مامورین په لومړي کتار کې منل، چې لکه د پوځ د افسرانو په شان له سیاست څخه لرې وي، خو د والا حضرت په ستاینه کې وروسته پاتې نه وي. د هېواد دننه او بهر ماموریتونو کې د پرمختګ لاره هغو خلکو ته پرانیستې وه، چې د سلطنتي کورنۍ یوه غړي سره یې اړیکې وې او همدوی کولای شول، چې په هر ډول کار کې آزادي ولري او د ذوق مخه یې چا نه نیوله. له بلې خوا یو شمېر سیاسي دلالان ډېر ته راوستل شوي وو، چې د ښکاریانو په شان یې پاك او معصوم ځوانان را ایسار کړي وو او دغو بې تجربه ځوانانو ته یې د دوکې، تشویق او ګواښ لومې اېښې وې او هر یو یې په یوه بهه باندې ښکار کاوه. د بېلګې په توګه صلاح الدین خان سلجوقي، چې په خپله له همدې لارې تر وزارت او سفارت پورې رسېدلی و، کله چې د مطبوعاتو رییس و، یو شمېر پاك او بااستعداده او د زده کړو لرونکی، خو بېوزله ځوانان به یې ماموریت ته منل او ورو ورو به یې بیا له هغه څخه یو شمېر یې «د هېواد د اصلاح» په نامه د «لیکلي وراندیز» په بهه دولت ته ښودل او په لومه کې دغه ښکېل ځوانان به یې په خپله صدراعظم شاه محمود خان یا د هغه مرستیال او وراره محمدنعیم خان ته ورپېژندل، څه موده وروسته به دغه ځوان یو داسې ښکېل شوی شخص و، چې خامخا به یې د دولت ډول ته نڅا کوله. البته سرغړوونکو ښه راتلونکې نه درلوده او ژر به هېر شول او مه مره مه رغېږه ژوند باندې به اخته شو، خو دولت هم نشو کولای، چې لکه د پخوا په شان دوی د توپ خولې ته وتړي او یا محبسونه ورڅخه ډك کړي. په تېره بیا، چې دغه قشر ورځ په ورځ زیاتېدونکی و او د هېواد مهم ادرات لکه اردو هوایي ځواکونه، بهرنۍ چارې، معارفو مطبوعات، صنعتي او اداري ځانګې او نور تول ډېرونه تش و او ځوانو کادرونو او نویو تحصیل لرونکو ځوانانو ته اړتیا ډېره وه.
په دې توګه د سلطنت او روشنفکر قشر تر منځ یوه تاکلې کرښه راغله، چې یوې خوا ته یې پلورل شوي کار کوونکي وو، چې د چارو په سر کې وو، بله خوا ناپېیلي کسان و، چې لکه د رسمي وسیلې په توګه یې بې له کوم خیانت څخه ژوند پر مخ بیوه، خو کوم ځای ته نه رسېدل، خو د دولت د مخالفینو برخلیك بیا تاکلی و، چې ورو ورو ورکېدل، ګواښ سره مخامخ کېدل او له ډېر څخه ایستل کېدل. د افغانستان د اداري او سیاست ډېر د کورنیو او هندوستاني جاسوسانو، سلطنتي کورنۍ، خانانو، لویو سوداګرو او پلورل شویو د آس ځغلولو لپاره پاتې و، چې د بډو، قاچاق او سوداګریز لوټ او تالان بازار ښه تود و. آن دا چې په خپله صدراعظم د نړېوالي جګړې په ترڅ کې د جمع او نقل د رییس غلام جیلاني صادقي، د تجارتي شرکت د رییس محمدزمان خان دهن کج د هرات والي عبدالله ملکیار «دغه درې تنه د صدراعظم پسر خوانده ګان وو، چې هر یو یې په افغانستان کې لوی میلیونران وو» په واسطه د میلیونونو افغانیو په ارزښت مالونه د هرات له لارې څخه ایران ته استول او د امریکې په بانکونو کې یې د افغانستان مالونو له خرڅلاو څخه په میلیونو ډالره زېرمه کړي وو، حال دا چې په بدخشان کې ښځو پوره جامې نه درلودې، د ننګرهارساپیو د ژویو پوستکي اغوستل او په بلخ او هرات ولایتونو

کې د ۱۹۴۴ - ۱۹۴۳ سوړ ژمي خلك او څاروي لکه د چرګانو د رمې په شان په سوړو د ننه کړي وو، خو د حاکمې طبقې ماڼۍ سلطنتي کورنۍ، لویو سوداګرو او شتمنو اشرافو قصرونه د مونتي کارلو په جوارګړۍ او د پاریس په ګډاځایونو بدل شوي وو او د اروپا او امریکا د سیل ځایونه د دوی دوهم کورونه وو. په همداسې یوه بد کال کې په کابل کې آوازه خپره شوه، چې د صدراعظم او د سلطنتي کورنۍ د پیسو زېرمې په امریکا او اروپا کې له څو میلیونو، ډالرو، پوندو او فرانکو څخه هم زیاتې دي. البته د نظامي حکومت تر برچې لاندې چا نشو کولای، چې پوښتنه وکړي، چې ولې او له کومه ځایه؟

په دغه ډول یوه تیاره فضا کې، چې وروښو په افغانستان کې له سیاسي او اداري پلوه دا ډول یو سلطنت جوړ کړی و (اقتصادي حالت یې تشریح شو) او عمومي وېره د خلکو ستونې نیولې و، دغه سلطنت تل د خلکو او په تېره بیا د روڼ اندو له قشر څخه د خپل ظلم له امله په وېره کې و، په تېره بیا کله چې نړیواله دوهمه جګړه مخ په ګړندیتوب وه او پایله یې هم څرګنده نه وه، هېڅوك نه پوهېدل، چې آیا د انګرېزانو پای به په مستعمراتو، په تېره بیا په هندوستان کې په څه ډول وي؟

او که دغه دولت له ماتې سره مخامخ شي د افغانستان دغه سلطنت به خپله تکیه له لاسه ورکړي او له نورو کومو کورنیو او بهرنیو پېښو سره به مخامخ شي؟

نو په دې توګه سلطنت د احتیاط په خاطر د خپل ټینګښت لپاره یو شمېر نوي پلانونه تر کار لاندې ونیول، چې له پخوانۍ ستراتیژۍ سره یې توپیر درلود، خو د خپلو نویو نقشو په تطبیق کې یې داسې تکتیکونه په کار وړل، چې د افغانستان د خلکو لپاره یې په ځنډني ډول تطبیق کول، د هغو د ستراتیژۍ اجباري بدلیدل پټ کړي و او خلك لا هم د پخوانۍ ویرې تر سیوري لاندې ورو ورو دغه جبري نوي بدلون داسې احساس کاوه، چې هغه د دولت ارادې پورې مربوط وبولي او کوم انقلاب پېښ نشي.

په هر حال، محمدهاشم خان د جګړې په ورځو کې لاندینۍ چارې تر لاس لاندې ونیولې:

د پوهنې په برخه کې یې له ۱۹۳۸م. څخه د نړیوالې جګړې تر پای ته رسېدلو پورې د اوو کلونو په ترځ کې د زده کوونکو شمېر له نولس زره تنو څخه تر ۹۴ زرو تنو پورې ورساوه، د پښتو ژبې تدریس، چې په ناپښتو ژبو ولایتونو کې هم ترسره کېده، هغه یې یوازې پښتو ژبو ولایتونو پورې منحصر کړ، دلومړنیو ښوونځیو د زده کړې کلونه، چې پخوا له پینځو کالو څخه څلورو ته راکم شوي وو، بېرته یې شپږو کالو ته لوړ کړل او د نوي معارف په لوایحو او پروګرامونو کې یې بیا له سره نوی نظر وکړ او د نجونو د ښوونځیو جوړول یې په پام کې ونیول. د لومړنیو زده کړو لپاره یې مفتشین او مرستیالان او د ښوونځیو ښوونکو ته یې د خوراك د غلې د پیسو ورکول ومنل. په ۱۹۴۴م. کال کې شرعي مدرسې هم جوړې شوې او وغوښتل شول، چې دیني ملایان به د دولت د سیاست له نویو غوښتنو سره ځان برابر کړي. له دې پرته صدراعظم، چې پخوا د نجونو د معارف کلك مخالف و، د وخت د غوښتنو سره سم یې په ۱۹۴۱م. کې د کابل د نجونو لیسه جوړه کړه. په ۱۹۴۴م. کې یې د ادبیاتو پوهنځی تشکیل کړ او په همدې کال یې د پوهنې ننداره (د تمثیل صحنه) جوړه کړه، د سید جمال الدین هډو کي له اسلامبول څخه

Scanned by CamScanner

کابل ته راوړل شول (خو که نړیوالې جګړې څخه مخکې دغه سړی ژوندی وای او د صدراعظم ګوتو ته ورغلی وای، د توپ خولې ته به یې تړلی و). د نړیوالې جګړې د پیل په کال (۱۹۳۹م.) کې صدراعظم د هېواد د ځوانو او خورو ورو لیکوالو د بوختولو او راټولولو په خاطر د مطبوعاتو خپلواک ریاست، چې د بېلا بېلو څانګو لرونکی و جوړ کړ او د تجارت یو ښوونځی یې هم په کابل کې جوړ کړ. دغه لوی نصاب په ۱۹۴۱م. کال کې د سرې میاشتې د خور په څېره کې ځان ننویست او یو دارالمساکین یې جوړ کړ. خپل وراره محمد نعیم خان ته یې دنده وسپارله، چې نه یوازې د صدراعظم مرستیال، بلکې د پوهنې وزیر، د مطبوعاتو مشر، د شاعرانو او پوهانو مخکښ او د هنرمندانو او لیکوالو پیشوا هم شي او دغه محروم او د سلطنت مخالف قشر په ځان پورې راټول کړي او هنري، ادبي، تاریخي او علمي چارو باندې یې وګومارل او د واکمنې کورنۍ له لوري د ادبپالنې او علم پالنې یوه ننداره ښکاره کړي، حال دا چې تر دې مهاله پورې ددغې کورنۍ غړو د هېواد پوهانو ته ډېر لږ درناوی او پاملرنه هم نه وه کړې. دولت سیاسي تبعید شوي کسان هم له لرې پرتو کلیو څخه کابل ته راوغوښتل او له سیاسي بندیانو سره یې هم نرم چلند او آسان چاري غوره کړه.

له بلې خوا د هېواد د کلك کنترول لپاره صدراعظم په ۱۹۴۱م. کال کې د کابل د پولیسو مدیریت په ریاست باندې بدل کړ او هغه ته یې د یو جنرال تر امر لاندې پراختیا ورکړه او په ۱۹۴۲م. کې یې د ژاندارم او پولیسو ښوونځی جوړ کړ. په ۱۹۴۴م. کال کې یې د انګلیس له دولت سره د یو تړون له مخې ۲۰۰ تنه افغاني افسران د تحصیل لپاره انګلستان او هندوستان ته واستول او ۲۴۸ لارې یې له امریکې څخه وپېرودلې. ورپسې د غازي په لیسه، رادیو او نساجي په برخو کې انګلیسي متخصصین په کار وګومارل. په ۱۹۳۹م. کې یې په کندهار کې د ښځو لپاره یو روغتون جوړ کړ.

دوهمه نړیواله جګړه د تیري کوونکو فاشیستي دولتونو په ماتې سره پای ته ورسېده او په نړۍ باندې یې ژورې اغېزې وکړې. په دغه جګړه کې د بې شمېره انسانانو وینې تویې شوې، چې په تاریخ کې یې ساري نشته. زیات کلي او ښارونه ویجاړ شول. د نړۍ سیاسي نقشه بدله شوه او یو شمېر پخوانیو لویو دولتونو خپل ځای نورو نویو دولتونو ته پرېښود. له بلې خوا علمي اختراعات د اتم تر عصر پورې ورسېدل. په لویدیځ کې متحده ایالاتو د انګلیس د دولت ځای ونیو. په نړیواله کچه شوروي اتحاد او امریکا د دوو زبر ځواکونو په بڼه راڅرګند شول وروسته بیا په ۱۹۴۹م. کې د چین سوسیالیستي دولت جوړ شو، چې په ختیځ او نړۍ کې یې یو لوړ دریځ ترلاسه کړ.

هغه ډېر مهم بدلونونه، چې په نړۍ کې وروسته تر دوهمې نړیوالې جګړې څخه رامنځته شول هغه دا وو: د ښکېلاکګرو ځواکونو خوارېدل، د ملي آزادي بخښونکو غورځنګونو ورځ په ورځ زیاتېدونکي بریالیتوبونه، د سوسیالیستي ځواکونو هېوادونو رامنځته کېدل. د خپلواکي غوښتونکو، دیموکراتیک او انقلابي مبارزو پراختیا او چټکتیا او داسې نور، چې دا ټول په ختیځ او په هغه کې بیا په افغانستان باندې اغېزه لرونکي وو. وروسته تر جګړې زوړ امپریالیزم او ښکېلاك څه نا څه ونړېد او خوار شو او ګڼ [illegible] یخواني ښکېل شوي هېوادونه خپلواك شول. البته ښکېلاك او امپریالیزم په

Scanned by CamScanner

بشپړ ډول له منځه نه و تللي، بلکې نوې بڼه یې غوره کړه. د افغانستان تر څنګ د اروپاییانو مالکیت او ښکېلاک پای ته ورسېد، د پاکستان او هندوستان دوه نوي هېوادونه جوړ او ایران څخه بهرني نظامي ځواکونه ووتل.
البته افغانستان، چې د منځنۍ آسیا پر څلورلارې باندې پروت و نه یې شو کولای، چې له دغو بدلونونو څخه بې اغېزې پاتې شي. په همداسې یو وخت کې افغانستان له کلابندۍ څخه راووت. دولت اړ شو، چې هم د نړېوال سیاست له امله او هم په هېواد کې دننه د سیاسي او اقتصادي وضعیت له امله مجبوریت له مخې و، چې خپل سیاسي سازمان بدل او خپل پخوانی پروګرام رانوی کړي، خو د افغانستان سلطنت او حاکمه طبقې نشو کولای اونه یې غوښتل، چې دغه نوی شوی پروګرام په بنسټیزه توګه او په بشپړه بڼه د افغاني ټولنې په ګټه عملي کړي. له همدې ځایه پوهېدلای شو، چې په خپلو هېوادونو کې دولتونه څومره دروند مسئولیت او پرېکنده رول لري، خو هلته ملت او هېواد څومره بدمرغه دی، چې دولت یې نه رښتینی وي او نه لایق. دا چې وایي: هر ملت د هماغه ډول حکومت وړ دی، چې لري یې: هغه وخت رښتیا کېدای شي، چې ملت د خپل رژیم په غوره کولو کې آزاد وي، نه دا چې داسې یو حکومت وي، چې په زور او دوکه په دوی باندې زغمل شوی وي او ملت ته هېڅ داسې کوم فرصت ورنه کړي، چې خبرې وکړي. د افغانستان اوسنی سلطنت همدا ډول یو تحمیل شوی دولت و، چې د افغانستان خلک یې د ارتجاع او خرافاتو خوا ته ټېل وهل او دوی یې له ترقۍ او بشپړتیا څخه لرې وساتل.

# څلورم څپرکی

## د ټولنیز وضعیت بدلون او ملي – دیموکراتیک سیاسي مبارزات ۱۳۲۵ – ۱۳۳۲ل.

### (د شاه محمودخان د حکومت پر مهال: ۱۹۴۶ – ۱۹۵۳. سپتمبر)

## لومړی

### برزخ حکومت

### (د محمدهاشم خان د حکومت پر ځېدل او د ظاهرشاه تبارز)

د نړېوالې جګړې په ترځ کې د هېواد اقتصادي کړکېچ ژور کېدل د دولت د اصلاحي اقداماتو مهم او اصلي لامل و، د جګړې په ترځ کې د غذایي توکو بیې مخ په پورته وختې، د وارداتي صنعتي مالونو بیې هم لوړې او دغه توکي ډېر لږ وو.

په ۱۹۴۲م. کال کې د لومړي ځل لپاره د هېواد په تاریخ کې غنم هېواد ته وارد شول. دغه اقتصادي ناوړه وضعیت له سیاسي اختناق سره یو ځای او تړلی و، چې د خلکو د ناخوښۍ لامل شوی و. د بېلګې په توګه د ۱۹۴۵ او ۱۹۴۷م. کلونو بزګري او قبایلي پاڅونونه ددې کرکې نښې وې، له بلې خوا د سوسیالستي هېوادونو ورځ په ورځ زیاتېدونکی قوت او د پخوانیو ښکېل هېوادونو ورځ په ورځ خپلواکه کېدو، د آزادۍ غوښتونکو او دیموکراتیکو غورځنګونو پراختیا او بریالیتوب هم د انګلیس دولت او د نورو استعماري هېوادونو د ضعیفه کېدو لامل کېده، نو ځکه د افغانستان د دولت کورنی او بهرنی سیاست بدل او نوی شو.

جګړې لا دوام درلود، چې د افغانستان واکمنې کورنۍ د راتلونکي لپاره نوې نقشې جوړې کړې. په دې کې یوه داسې طرح هم وه، چې که چېرې د انګلسان دولت ار شي، چې هندوستان بېخي پرېږدي او واکمنه کورنۍ د بهرني او کورني سیاست په تشیال کې یواځې او بې ملاتړه پاتې شي. نوباید په څه ډول سره د خپل ځان د پاتې کېدو لپاره ډاډمنتیا ترلاسه کړي؟ په تېره بیا چې د خپلو اوولس کاله ناوړه عملونو له امله د افغانستان د خلکو له غبرګون څخه هم په وېره کې و. دغه نوې نقشه د بهرني یو اړخیز

سياست د تعديل او په کورني سياست کې د نرموالي او سازش پر بنسټ جوړه شوې وه، چې د هېواد اقتصادي او ټولنيز نيمزاله پرمختيايي رانغاړله. خو واکمنې کورنۍ او د هغو بهرنيو مشاورينو د پخوانۍ ستراتيژۍ د تبديل لپاره نوي تدريجي تکتيک غوره کړ، چې خلك د دولت د بېړۍ له کبله د سلطنت په مجبوريت باندې ونه پوهېږي موخه داوه، چې خلك بايد دغه نوي اصلاحات د سلطنت ترحم او د واکمنو اختياري سوغاتونه وګڼي. نو ځکه يې ددې موخې د ډاډمن کېدو په خاطر مخکې تر دې، چې محمدهاشم خان له منځه وباسي، د هغه تشيال د ډکولو لپاره يې چې دده په له منځه تګ سره به رامنځته شي، ظاهرشاه يې له سياسي او اداري انزوا څخه راوکيښ او هغه يې د دولت د قدرت د مرکز په توګه په ډېرو تبليغاتو او تظاهراتو سره د حکومت په سر کې کېناوه، آن دا چې هغه يې د تل يوه ډېر فعال ځواك په توګه خلکو ته وښود، آن دا چې په ۱۹۴۲م. کال کې يې د افغانستان له صدارت څخه د محمدهاشم خان استعفا هم فقط د پاچا شخصي ارادې او ځواك او د محمدهاشم خان په خوښې پورې وتړله، همدارنګه يې د صدراعظم په توګه د شاه محمود خان ټاکل هم د پاچا اراده وګڼله او د نوي نرم او تود چلند غوره کول يې هم د پاچا له امله وګڼل. البته دا مهال شاه محمودخان د خلکو په وړاندې د مينې او عطوفت يو نقاب پر مخ وغوړاوه، نور هغه پخوانۍ قصاب ډله ييزې وژنې پرېښودې. له دې څخه وروسته ټولو کورنيو او بهرنيو تبليغاتي وسايلو په پرله پسې توګه د راډيو او نورو مطبوعاتو په واسطه پروپاګنډې پيل کړې او د ظاهرشاه اتلولي يې تمثيل کوله.

نوی اساسي پلان د نويو ارزښتونو پر بنسټ ودرول شو، دا ځکه چې انګليس دولت، نو نور په هندوستان کې د يوه بادار په توګه نه و، او د افغانستان خپلواك دولت هم نور نو د هندوستان په لاره کې د انګرېزانو د ګټو خنډ نه و، دا مهال د سلطنت او د انګرېزانو وېره له دې څخه وه، چې له هند څخه د انګرېزانو له وتلو څخه وروسته يوه خلا رامنځته شوه، نو بايد دولت د حقوقي مساواتو، سياسي آزادي، ټولنيزو او اقتصادي ډګرونو او نورو برخو کې اصلاحات راوستي واى. البته دغو ريفورمونو او اصلاحاتو ډېره ژوره بنه نه لرله، خو بيا هم د پخواني پروګرام په بدلون او د نوي په تطبيق کې ستونزه دا وه، چې دغه نړېواله اصلاحي پروګرام د سلطنت له ګټو سره په تضاد کې و او ددغو دوو سره برابرښت ناممکنه خبره وه، دا ځکه چې سلطنت د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره د خپل ټينګښت له ورځې راهيسې د ملي اهدافو او ګټو په ضد جنګېدلی و، نو ځکه هغه په ملت باندې او ملت په ده باندې باور نه کاوه. په تېره بيا، چې سلطنت د خپلې واکمنۍ په موده کې دومره مادي او معنوي ژور زيانونه او ويروونکي تخريبات ترسره کړي وو، چې د هغوی د ببرته رغولو لپاره د ډېرش نور کلونه بس نه وو. له ملي ګټو سره د سلطنت همدغه تضاد و، چې په راتلونکي کې يې د دولت اصلاحات په ګډه وډه بڼه او لړلي شکل راوستل او د لګول شويو پيسو په اندول ډېر ګټور نه وو. دغه نه ګټورتوب په ټولو اقتصادي او اداري برخو کې وليدل شو، دا ځکه چې د واکمنې کورنۍ د غوښتنو په وړاندې د هېواد ملي ګټې پرتې وې، خو دولت د سلطنت ګټې د عمومي ګټو په پرتله اوچته وبللې. د بېلګې په توګه: واکمنې کورنۍ ځمکې لرلې او بازار ته يې غله عرضه کوله، په سوداګرۍ او بانکونو کې يې ونډه لرله او له

دلالي سوداګري څخه یې ګټه پورته کوله، نو د عامه ګټو په وړاندې یې د لویو سوداګرو او ځمکوالو د ګټو ساتنه کوله. همدا رنګه دولت د خپل واک د ساتنې په خاطر د چارو په سر کې یو شمېر هغه ملایان هم راوستل، چې یوازې د سلطنت چوپړیان او ساتونکي وو، نه هغه څوك چې باید د ملت او هېواد ګټو ته ژمن وي، خو ددې پر ځای دا هغه ډول خلك وو، چې د ملت په حساب یې د خپلو ګټو په خوندي کولو کې پوره آزاد لاس درلود. په دې توګه ریفورمونه، پلانونه، پروژې او موسسې ټول د دوی لپاره د لوټ او تالان دسترخانونه شول. په دې حال کې د شتمنو ځمکوالو، سوداګرو او بروکراتانو له منځه یو نوی قشر رامنځته شو.

خو دغو لوټ او تالان او ټول سیاسي او اقتصادي فشارونو، چې د نادرشاه له مهال تر اوسه پورې په دغه ملت باندې زغمل کېدل، یو شمېر غبرګونونه درلودل، د بېلګې په توګه اقتصادي فشار خلك دې ته اړ کړل، چې د قناعت او توکل او بې توپیرۍ له حالت څخه د کار کولو او په جبري توګه د خپلو اړتیاوو پوره کولو حالت ته ور وبلل. له بلې خوا د شتمنې طبقې په لاس کې د پانګې او شتمنۍ راټولیدل ددې لامل شو، چې د خلکو شعور اوچت شي. همداسې هم د حکومت سیاسي فشار او د زورور استبداد اغېز و د ملت د اکثرو وګړو په ذهن کې د شاهي او سلطنتي مقام په وړاندې کرکه راوپاروله، په دې توګه که افغاني ټولنه په یوه ناخوښه ټولنه بدله شوه او په هغې کې د سیاسي انقلاب استعداد مخ په وده شو، داسې ویلای شو، چې نور نو د انقلاب او جمهوریت نمونې خلکو ته پردۍ نه وې، همداسې هم د ځمکو ویش د دوی په ذهن کې هیلې راټوکولې او د خوښې وړ یې و، سره له دې چې دا وخت لا افغانستان له یوه ټولنیز انقلاب څخه ډېر لرې و، خو د سلطنت ډېر کلکو اعمالو خلك د دیموکراتیکو او سیاسي مبارزو په لوري یو قدم وړاندې ور وستل، چې دا په خپله د یوه لوی انقلاب خوا ته مقدماتي ګام و.

په هر حال، کله چې د سیاست په حکم او د پښتو د جبر له مخې محمدهاشم خان د واك له ډګر څخه لرې کړل شو، د هغه یو شمېر کلك او اغېزمن ملګري هم په ظاهري توګه له ډګر څخه ووتل لکه: الله نواز خان او هندوستاني شاه جي، د ضبط احوالات رییس مرزا محمد شاه خان، محمدګل خان مومند. عبدالمجید خان زابلي او فیض محمد خان زکریا. البته دوی یوه هم کوم نوی مال او نورې شتمنۍ ته اړتیا نه لرله، دا ځکه چې دوی د خپلو هغو دندو په عوض چې اجرا کړې یې وې، هر یو یې په لویو میلیونرانو بدل شوی و او کولای یې شول، چې د هېواد دننه او بهر د هندوستاني راجه ګانو په شان ژوند وکړي.

د بېلګې په توګه هندوستانی الله نوازخان په اروپا کې د سویس په هېواد کې مېشت شو او په هغې ډېر زیاتې شتمنۍ سره، چې په افغانستان کې یې راټوله کړې وه هلته یې هوسا ژوند پیل کړ. البته افغانستان ته یې تګ راتګ کولای شو او د سلطنت په دستګاه کې یې هم دریځ ساتلی و. دده زامن د خپل پلار پر ځای د شاهي کورنۍ غړي پاتې شول او د افتخاري شهزاده ګانو په توګه په مهمو پستونو کې پاتې شول. همداسې هم فیض محمدخان زکریا هم افغانستان پرېښود، خپله نالېږده شتمني یې په نغدو پیسو بدله او په لبنان کې یې یوه ماڼۍ ورباندې وپیرودله او کله یې په اروپا او کله یې په امریکې کې ژوند کول غوره کړل. په عمومي توګه افغانستان د دوی تفریح ځای او اروپا یې دوهم کور

Scanned by CamScanner

و. عبدالمجید خان زابلي هم له افغانستان څخه ووت او امریکا ته ولاړ، یواځې یو زوی یې دلته پاتې شو، چې د پلار سوداګري یې پر مخ بیوله. عبدالله خان شاه جي هندي، محمدګل خان مومند او مرزا محمدشاه خان په کابل کې پاتې شول او په بهرنیو هېوادونو کې ورته د اوسېدو فرصت پیدا نه شو، له دغو ټولو پخوانیو شریکانو او د کابینې له زړو غړو څخه یواځې علي محمد خان بدخشاني دافغانستان په دربار کې پاتې شو دا، ځکه چې هغه د افغانستان د سیاست په ژورو کې ورننوتلی و او د دولت پټې سیاست باندې ښه پوه و او مشورې یې لا هم پکارېدلې.

داسې ویلای شو، چې ددغې ډلې د ټولو غړو په پرتله صدراعظم محمدهاشم خان ډېر روحي کړاو سره مخامخ و، دا ځکه چې هغه محکوم و تر څو د هېواد د ننه پاتې شي او د یوې (خامخا) ورځې لپاره به ذخیره دلته پروت وي. په داسې یوه هېواد کې، چې یو دکتاتور هلته ډېر کلونه حکم او واک چلولی وي، خو اختیارات یې له منځه یوړل شي په اعزازي توګه د هغه ژوند له هر ډول مرګ څخه هم ستونزمن وي. په ټېره بیا هغه د زړ بوډي اوناروغیو تر ګواښ لاندې هم و. تر ټولو زیاته ده ته د ژوند په پای کې ډېره سخته خبره دا وه، چې هغه خپل دریغ څخه خبر شوی و او په دې باندې پوهېدلی و، چې ملت دده په هکله څه وایي او دده کړه وړه څرنګه بولي او په کومه سترګه ورته ګوري، نو ځکه دده روحي د ننه محاکمې هغه د یوه داسې مجرم په شان وګرځاوه، چې د غرغرې رسی سره خدای ته دعاوې کوي، نو ځکه دغه بې سواده سړی په بوډاتوب او بیکارۍ کې ایله د (تفسیر دری حسیني) په لوستلو پیل وکړ دا ځکه، چې هغه په عربي نه پوهېد او د (فاتحه الکتاب) په لوستلو هم نه پوهېد، خو له دې څخه وروسته به که څوک په کابل یا جلال آباد کې ده ته ورتلل، نو د دیناد یوه تارک او زاهد په توګه به یې ورته د تفسیر حسیني په هکله خبرې کولې، خو د تفسیر لوستل هم دده لامل نه شول، چې محمدهاشم خان د خپلو هغو سلهاوو میلیونونو ډالرو څخه، چې په بهر کې یې زېرمه کړي وو او له هغو سلهاوو میلیونونو افغانیو څخه، چې دلته هېواد کې یې درلودې، ډېر لږ شرعي زکات د تفسیر حسیني په حکم ورکړي، تر څو چې د مرګ استازی راغی او هغه پرته له جامو په لمدو خاورو کې پرېوت او د خپلو اعمالو یو داغدار څېرکی یې د افغانستان په تاریخ کې پرېښود.

د دوهمې نړیوالې جګړې په پای ته رسېدلو سره او په نړۍ کې د ځواکونو په تعادل سره په افغانستان کې نوی پروګرام پیل شو، خو محمدهاشم خان له خپل ویجاړوونکي پلان سره یو ځای پرېوت، خو ظاهرشاه ددغه تشیال د ډکولو لپاره په عملي توګه د سیاست ډګر ته راوستل شو. په دې توګه پخوانی هسې په نوم دربار په یوه نوي او له شور-زوږ څخه په ډک پارلمان بدل شو: دا ځکه چې نوي پروګرام ددې غوښتنه کوله، چې د افغانستان اداري واک باید ورو ورو د واکمنې کورنۍ د غړو د لاس پر ځای په خپله د پاچا لاس ته ورشي، نو ځکه پاچا په ۱۹۴۲ م. کې له خلکو سره د خبرې کولو او هغوی سره د لیدو کتلو په موخه ولایتونو ته د سفر کولو په موخه ووت او په ظاهري بڼه یې د دلاسا کولو او پخلاینې لاره غوره کړه. دا یواځې نه، بلکې په پلازمینه کې هم پاچا له روڼ اندو، سوداګرو، مامورینو، افسرانو، ملایانو او مخورو سره لیدنې کتنې پیل کړې. یو کال وروسته (په ۱۹۴۷ م. کې) ۵۰۰ تنه د پکتیا

Scanned by CamScanner

بندیان د سدو خان او ببرك خان د زامنو په ګډون (چې له سلطنت سره یې مخالفت کړی و) د پاچا له خوا محبس څخه خوشې شول، خو د کابل ښځینه او نارینه سیاسي بندیان د څرخي د کورنۍ د غړو په ګډون لا د مخه خوشې شوي وو. له دې څخه وروسته ورو ورو ظاهرشاه د یوه غیر مسئول او ما فوق دیکتاتور بڼه غوره کړه، د انګلیس دولت چې پخوا تر دې د خپل استعماري واك له امله په افغانستان او یو شمېر نورو ختیزو هېوادونو کې د هر ډول اقتصادي او ټولنیزې ترقۍ په مخه کې خنډ ګرځېدلی و، اوس نو وروسته تر دې د دوهمې نړېوالې جګړې په پای ته رسېدلو سره د خپلې استعماري امپراتورۍ له زوال سره مخامخ و او په ۱۹۴۷م. کې اړ شو، چې هندوستان په بشپړ ډول پرېږدي. له دې څخه درې کاله وروسته (په ۱۹۵۰م. کې) یې د سویز کانال، بیا یې سوډان او عراق او د پارس سمندر (خلیج) هم پرېښودل. په دې توګه په آسیا، افریقا او افغانستان کې د انګرېزانو سیاست د غیر کمونیستي او مرکزي دولتونو پیاوړي کولو ته شو، په تېره بیا د امریکې د دولت مرستې هم ورسره وې. د افغانستان سلطنت د انګرېزانو له دغه نوي سیاست څخه د خپل رژیم د ټینګولو لپاره کار واخیست او بڼه پوره ګټه یې ورڅخه اوچته او د هېواد دننه یې د خپل نوي پروګرام تطبیق پر مخ بوت. وروسته تر دې دولت له دوو وسیلو څخه یعنې هم له پخلاینې او هم له تورې دواړو څخه کار اخیستل پیل کړل د بېلګې په توګه کله چې ساپیانو په ختیزو سیمو کې په ۱۹۴۷م. کې د سلطنت د اوولس کلنو ظلمونو په وړاندې غبرګون ښکاره کړ. هغه یې په ډېر ظلم او وحشت سره د وسپنې په زور د وینو په تویولو غل کړ. همدا رنګه د امان الله خان ورور محمدامین خان، چې د افغانستان د سلطنت د راپرځولو په خاطر په ۱۹۴۹م. کې له هند څخه د هېواد ختیزو پولو ته راوستل شوی و د اپی فقیر (مرزا علي خان پښتونستاني) په دوکه شویو لاسونو له ماتې سره مخامخ شو او ناکام بېرته ستون شو. له بلې خوا نوی صدراعظم شاه محمودخان دا دنده هم لرله، چې د هېواد دننه د محمدهاشم خان برعکس د افغانستان له خلکو سره د پخلاینې لاره غوره کړې او په کوچنیو برسیرنو ریفورمونو هغوی بوخت وساتي.

د ۱۹۴۲ کال د می په میاشت کې د شاه محمود خان کابینه جوړه شوه، چې تر ټولو د مخه د لندن له راډیو څخه د هغې لپاره د شاباس او تصدیق کولو د هر کلي غږ راپورته شو. بي بي سي راډیو ددغه خبر د خپرولو تر څنګ دا هم وویل، چې: د افغانستان کورنی وضعیت داسې دی، چې باید صدارت د شاهي کورنۍ د یوه غړي په لاس کې وي؛ په هر حال د لومړي ځل لپاره وروسته تر اوږدو کلونو څخه د واکمنې کورنۍ په پرسېدلو اوله کینې څخه ډکو شونډو او تریو تندي باندې مصنوعي موسکا او پراخوالی ولیدل شو او د خلکو د آزادي-دیموکراسي او ترقي او تجدد په هکله خبرې وشوې، آن دا چې یو شمېر تحصیل کرده خلك د کابینې د غړو او رییسانو په توګه په کارونو وګومارل شول. البته هغه کسان په کار ګومارل کېدل، چې په ټولنیزو چارو کې دومره معتدل و لکه اوبه چې ۳۷ درجې تودوخه ولري، یعنې نه یخني او نه ګرمي ورڅخه احساس شي، خو د کورنیو چارو، بهرنیو چارو او د حربیې مهم وزارتونه د پاچا د کورنۍ او د هغې د شریکانو په لاس کې وو. شاه محمود دنده لرله، چې په نرم چلند سره کوچنې برسیرن اصلاحات ترسره او له واکمنې کورنۍ سره د روڼ اندو او خلکو پخوانۍ دښمني را کمه کړي او

په بهرني سیاست کې یو اړخیز چلند پرېږدي او له شوروي اتحاد سره نږدې شي، تر څو په دې توګه له بهرني خطر څخه واکمنه کورنۍ وساتل شي.

یوه کورنۍ چاودون او بهرني خطر څخه واکمنه کورنۍ وساتل شي.
یوه کورنۍ چاودون او بهرني ... له همدې امله د هېواد دننه له خمکوالو او بزګرانو څخه د اجباري خرید او د غلې حواله را کمه شوه او په زندانونو کې په علنۍ توګه شکنجه کول منع شول. همدا رنګه د ښاروالیو آزاد انتخابات اعلان شول، خو لا هم په نظامي پوځ، لویو سوداګرو، پانګوالو او ځمکوالو کې د سلطنت د پښو ټینګښت نه وهېر شوی. شاه محمود خان په کلکه سره غوښتل، چې د افغانستان خلکو او روڼ اندو ته دا وښیي، چې دغه پخواني خاینانه پلان پرېښودل او نوی بدلون فقط او یواځې د پاچا د ترحم او شفقت پایله ده. که چېرې خلك ناشکري وکړي، نو دغه (شاهي صدقه) به بېرته واخیستل شي او د محمدهاشم خان د دورې وحشت به بیا پیل شي. البته د هغه د دغه ګواښ تر شا منظم پوځ او مجهز سپاهیان او د حکومت یو شمېر چوپړیان او وفادار افسران ولاړ وو. سلطنت د افغانستان د اردو یو شمېر قومندانان له ځان سره لرل. دوی د ترفیع، امتیاز، ځمکو، بخششي پیسو، د سپرلۍ د موټرو او کورونو په لرلو سره د سلطنت او سلطنتي کورنۍ ساتونکي او پالونکي ګرځېدلي وو. د بر کلك نظامي دسپلین هم دوی ته په تولنیزو چارو کې د تفکر وخت نه و پرېښی. یو کال وروسته (۱۹۴۷م. کې) کله، چې د هېواد په ختیځ کې ساپیانو د اداري له ظلم او له ډېرې بېوزلۍ څخه په پاڅون کولو لاس پورې کړ، همدغه ډول افسرانو هغوی د عصري وسلو تر اور لاندې ونیول او له منځه یې یووړل او بیا یې بهادرۍ واخیستې. د ساپیانو میرمنو د جګړې له وېرې څخه له خپلو کوچنیو ماشومانو سره ځانونه د کونړ د سیند څپو ته وغورځول. په کابل کې نایب سالار عبدالرحیم خان سره له دې، چې د سلطنت د ساتنې لپاره یې ډېر خدمتونه کړي و، خو یواځې په همدې ګناه چې په قوم باندې ساپی و، له خپل خوریي مشهور شاعر خلیلي سره یو ځای بندي کړل شو.

په هر حال، سیاسي او اقتصادي نویو غوښتنو حکومت او سلطنتي کورنۍ اړ کړه، چې یو شمېر ریفورمونه ترسره کړي، دا ځکه چې افغانستان له پانګوالي څخه د مخه مناسباتو څخه د پانګوالۍ پړاو ته د ننوتلو په مرحله کې و، نو باید چې دغه ریفورمونه یې منلي وای. آن دا چې د هېواد په ځینو سیمو کې ما قبل فیوډالي مناسبات تر سترګو کېدل.

د بېلګې په توګه یو شمېر خلك د کوچیانو په بڼه، یو شمېر په قبیلوي او د پدرشاهي په بڼه اوسېدل، له بلې خوا د دوهمې نړېوالې جګړې اغېز و، د هېواد اقتصاد په یوه اجباري ګرداو کې واچاوه. صادرات راکم شول او استهلاکي شیان لږ شول، خو بیې لوړې شوې. له دغه کړکېچ سره یو ځای تور بازار هم پراخه شو، په ۱۹۴۲م. کال کې د هېواد کرنیز حاصلات خراب او افغانستان په خپل تاریخ کې د لومړي ځل لپاره له بهر څخه د غلې واردولو ته احتیاج شو. دا یواځې نه، بلکې د حاکمه طبقاتو شدید تکرد بزګرانو له کتو سره، د منځنیو سوداګرو تکړ د لوړې طبقې له کتو سره هم په ځرګند ډول تر سترګو شو. ددغه وضعیت په سر کې له سلطنت او اداري څخه د خلکو کرکه (له ورایه ځرګندېده. دې ټولو خبرو دولت دې ته اړ کړ، چې د خپل ځان د ساتنې او پاتې کېدو لپاره اصلاحاتو ته لار هواره کړي: په تېرا

بیا، چې اوس په بهرني سیاست کې هم د انګرېزانو له اغېزمن اوسېده، ملاتړ څخه بې برخې شوی و.
په دې توګه واکمنې کورنۍ پرېکړه وکړه، چې بهرنی سیاست تعدیل او کورنۍ اداره هم نوې کړي او ټولنیز اصلاحات پیل کړي، خو آیا دوی ددې ډول چارو په ترسره کولو بریالی و؟ ځواب منفي و. دا ځکه، چې دوی په طبیعي توګه هر عمل د خپلې کورنۍ په ګټه پر مخ بیوه، له دې پرته په خپله شاه محمود خان د کرکتر او اهلیت له پلوه فقط یو د نولسمې پېړۍ اشرافي او درباري سړی و، چې د شلمې پېړۍ د یوه واکمن بشپړ سیاسي او علمي صلاحیت یې نه درلود. له همدې امله دده حکومت د پخوانۍ ارتجاع او د نوي تحول د منلو تر منځ د یوه برزخ بڼه غوره کړه. ددغه سړي صدارت دده د حکومت د پروګرام په اجرا کې ناکام او اداري او اقتصادي لوړې-ژورې او د کورنیو چارو انارشي او کړکیچ دوام وموند. د بېلګې په توګه له ۱۹۴۸- ۱۹۵۲م. پورې د اقتصاد په ډګر کې د هېواد د قره قل تولید له درې میلیونو او څلور سوه زرو ټوټو څخه یو نیم میلیونو ټوټو ته راکم شو. چې له دې سره یو ځای د امریکې په بازارونو کې د افغاني قره قل بیه هم نیمایي ته راولوېده. د هېواد دننه هم د غلو-دانو تولید کم او اسعارو کسر زیات شو، د ډوډۍ بیه لوړه شوه او بیکاري هم زیاته شوه. احتکار او سود خوړل او په ښارونو کې تور بازار خلک له ستونزو سره مخامخ کړل، خو یو شمېر سوداګر، پانګوال او ځمکوال لکه د پخوا په شان د خلکو په لوټ او تالان بوخت وو.
صدراعظم شاه محمود خان او د هغه وزیرانو په څه ډول سره کولای شول، چې کورني تولیدات لوړ کړي او د بهرنیو د اقتصادي سیلاو مخه ډب کړي؟ په داسې حال کې، چې د دوی ډله پېژه هځې یواځې او یواځې د اوسني رژیم ټینګولو ته اړم وې، چې بنسټ یې فیوډالي ملکیت، پانګوال او دلال سوداګران وو، نو ځکه نه کوم پرمختیایي پلانونه اونه اقتصادي ټولنیز پروګرامونه، چې دوی یې د خلکو په غوږو کې وربو کړي او نه هم اصلاحي پروګرام عملي شو او نه هم یو میلیون کوچیان دهنشین شول، خو د شاه محمودخان حکومت له یو شمېر ریفورمونو څخه لاس وانخیست او د خپلې دورې او د خپل وررور محمدهاشم خان د دورې تر منځ یې یوه نرۍ لیکه وکښله، دا یې د حکومت مهم کارونه وو:
د نظامي حکومت بنسټ په یوه نیمه نظامي، خو د دیموکراسۍ تر پردې لاندې نیمه نظامي حکومت بدل شو. په زندانونو او توقیف خانو کې علنی او وحشیانه شکنجې ظاهراً منع شوې. په ښوونځیوو کې پرته د مذهبي تبعیض څخه د زده کوونکو شمولیت پیل او په کابینه کې هم د زده کړو خاوندان وګومارل شول. تر ټولو مهم دا، چې انتخابات په آزاد ډول ترسره شول اګر، چې دا انتخاب یو ځل د ښاروالیو او ملي شورا لپاره اعلان شول (۱۳۲۸- ۱۳۲۷)، چې له ۱۹۴۹- ۱۹۴۸م سره برابر و. همدغې ملي شورا کې، چې د شورا اوومه دوره وه، د یو شمېر روڼ اندو په لاربښوونه د مطبوعاتو قانون په ۱۹۵۱م. کې رامنځته شو او د رژیم په دیموکراتیک کولو کې یې مبارزه وکړه، تر څو چې په خپله له منځه ولاړ. انتخابي ښاروالی هم د کابل په زاړه ښار کې یو څه نوي بدلونونه راوستل. میوندواړ، نادرپښتون واټ او پامیر سینما جوړ شول. د کابل ښار یو شمېر سړکونه پاخه او د پامیر جریده خپره شوه همدا ډول هم د لومړي ځل لپاره په ۱۹۵۰م. کې د کابل پوهنتون محصلانو ځانته اتحادیه جوړه او د محصلانو سیاسي

Scanned by CamScanner

غورځنګ پیل شو، خو وروسته دغه غورځنګ وځپل شو. د نجونو ښوونځي تاسیس شول پراختیا یې وموندله او د نجونو شمېر تر شپږ زرو پورې ورسېد. په دغه دوره کې په هېواد کې د ټولو زده کوونکو شمېر له سل زرو څخه زیات شو او کابل پوهنتون د ۱۹۴۲م. کال په اپریل کې تاسیس شو. همداسې هم یو شمېر شرعي مدرسې، متوسط ښوونځي، مسلکي او ثانوي مکتبونه هم تاسیس شول او یو شمېر زده کوونکي بهرنیو هېوادو ته واستول شول. ښوونکو ته د میاشتې پېنځه منه اوړه مقرر شول او څلور لیلیه منځني ښوونځي، چې په هغو کې مالي-اداري کورسونه، سود آموزي او لاسي صنعت او تدبیر منزل پخلي او ګنډل تدریس کېدل جوړ شول. په ۱۹۴۲م. کال کې د میرمنو ټولنه جوړه شوه او د میرمن مجله خپره شوه. د کوچنیانو لپاره ډېر لږ شمېر ښوونځي جوړ شول د کتابتونونو، یو شمېر لابراتوارونو، د خزان سالون (د لاسي صنایعو نندارتون) او د کابل ورکتون، چې په ۱۹۴۹. کال کې وشول، خو یو ډېر مهم کار، چې وشو هغه د پخواني فلج شوي معارف تعلیماتنامو په پروګرام کې اصلاحي نوی نظر و یوه پایله یې په پښتو ژبه د جبري زده کړې منع کول و، چې په ناپښتنو سیمو کې عملي شول. حکومت، چې په سیمه ییزو کنفرانسونو کې ګډون کاوه، له دغو کنفرانسونو څخه یې د هېواد دننه ښوونه او روزنه کې هم کار اخیست او په ۱۹۴۸م. کې د یونسکو غړیتوب هم ترلاسه شو.

د وقایوي طب محدود سیستم په معالجوي طب ور زیات کړل شو او له ملاریا او لشمانیا سره د مبارزې پروګرام او یو زېږنتون له ولایتي یو شمېر روغتونونو سره تاسیس شول. د روغتیا زېږې مجلې خپرې شوې همدا رنګه د مخابراتو، ټرانسپورت او قضایي چارو کې کارونه وشول. ښاري ډاګ خونې، تیلیفون او اتومات مخابره په پلازمینه کې د شوروي اتحاد سره د تړون د لاسلیک کولو وروسته جوړ او د ۱۹۴۷م. کال د اپریل په ۱۲مه د دواړو هېوادونو تر منځ د رادیو تلګرافي اړیکو په هکله تړون لاسلیک شو. د ودان په نوم یو د لېږدولو شرکت جوړ او له کندهار څخه تر قلعه جدید پورې سړک وغځول شو، په ۱۹۴۸م. کې (کسه عمراني) تاسیس شوه او د قضا یوه مدرسه هم جوړه شوه د عدلیې او قضایي چارو اړوند اصولنامه او تعلیماتنامه هم چمتو شوه، یو شمېر جت الوتکې وپېرودل شوې او د احتیاط د ضابطانو ښوونځي هم جوړ شو. البته څرګنده خبره ده، چې د دولت اصلاحي اقدامات د خپلې پراختیا او ژورتیا له پلوه محدود او نیمزاله وو او د هېواد د پراخه ولسونو په ژوند کې یې کوم د پام وړ بدلون رانه وست.

Scanned by CamScanner

## دوهم
# اقتصـــادي بدلون

دولت د خوراکي توکیو د کمښت د مخنیوي او ورځ په ورځ لوړېدونکو بیو په هکله بېلابېل اقدامات ترلاسه لاندې ونیول، په دې لړ کې یو هم د سوداګرۍ د آزادولو په شتون کې د پانګې اچونې په تمرکز کې آساني راوستل و، نو ځکه د ملي بانك پانګه ځلور ځله تر پخوا زیاته شوه. کوچنیو او منځنیو سوداګرو ته د زیات فعالیت لاره هواره شوه. په پیل کې د ملي شورا او ښاروالیو لپاره سري او آزاد انتخابات مجاز وګڼل شول. برزخ حکومت په هماغه لومړي کال کې یوه سوداګریزه دیپو د لویو شرکتونو او دولت په ګډون په ۱۹۴۶م. کې جوړه کړه او په بل کال یعنې ۱۹۴۷م. کې یې د کمپنیو انحصار په تېره د قره قل، وړیو او د بهرنیو مصنوعاتو د واردولو په برخه کې یې انحصار له منځه یوړ او د انفرادي سوداګرو او شرکتونو آزادي یې د اقتصاد د وزارت تر کنترول لاندې راوسته. د وزیرانو په ګډون یې یو کمیسیون جوړ کړ تر څو د استهلاکي موادو تجارت تر څارنې لاندې ولري. حکومت تردې هم پر مخ ولاړ او د یوه اقتصادي پرمختیایي پلان د جوړولو په فکر کې شو.

خو په عمل کې حکومت په خپلو دغو ژمنو کې ناکام و، د بېلګې په توګه هغه دیپو، چې د رخت پلورلو انحصار یې ترلاسه کړی و، له نورو شرکتونو او انفرادي سوداګرو څخه به یې په سلو کې د شل ګټې په کولو سره رختونه اخیستل او بیا به یې په بېوزلو خلکو باندې پلورل. دا یوازې نه، ګڼ شمېر اختلاسونه، د خلکو په زیان په دغه دیپو کې وشول، چې هغه د اوومې ملي شورا د یوه کمیسیون تر تفتیش لاندې راغلل (زه په دغه کمیسیون کې غړی وم) چې د حکومت له خوا یې پوښتنه ونشوه. صادراتو او وارداتو د انحصار له منځه وړلو اقتصادي نوسانات راکم نه کړل، دا ځکه چې شرکتونو په خپلو غټو پانګو سره خپل پخواني اوچت دریځ ساتلی و او د سبسایدي او کریډیټونو امتیاز یې لکه د پخوا په شان درلود. دغو ډلو سوداګریزو بازارونو ته پاملرنه کوله، ملي صنعت ته یې پام نه کاوه. په افغانستان کې د څو ګوتو په شمار فابریکو کنترول هم د لویو پانګوالو په لاس کې و. په دې توګه له ۱۹۴۷م. کال څخه تر ۱۹۵۰. کال پورې واردات د صادراتو په پرتله زیات شول او د اسعارو او د پام وړ پروګرامونو د تمویل په برخه کې راغلي فشارونو همداسې دوام درلود. له دې امله چې اصلاً د اقتصاد وزارت او د تجارت وزارت د لوی پانګوال عبدالمجید زابلي او د هغه د شریکانو په لاس کې و. نو (د بهرنۍ سوداګرۍ د سازمان نوي کولو) کمیسیون هم د هېواد اقتصادي او تجارتي بد حالت ته کومه ګټه ونه کړه. همدا رنګه د شاه محمود د حکومت تر پنګېدو پورې ویل شوې اقتصادي پرمختیایي پلان راڅرګند نه شو.

Scanned by CamScanner

د کرنې او مالدارۍ په برخه کې په کابل کې په ۱۹۴۷م. کال د څاروېو د نسلګرۍ او د ارزاقو د اتاق جوړول او په پغمان کې د ورېښمو د چینجو د شرکت جوړول او د مچیو روزل پیل شول. همدا رنګه په سروبي کې د برېښنا د فابریکې او په کابل کې د موټرو د ترمیم د فابریکې جوړول پیل شول. تر دې مهال پورې د هېواد د کارګرانو شمېر تر ۴۰ زرو پورې رسېدلی و او د کارګرانو یو نیمګړی قانون، چې چندان نه عملي کېده هم جوړ شو (۱۹۴۲م.) دغه قانون کې د کرنیزو کارګرانو او پیشه ورانو په هکله څه نه و، بلکې یواځې د صنعتي کارګرانو لپاره و. په مالي چارو کې په ۱۹۵۱م. کې پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون وضع شو او د دولت بودیجه له ۳۴۰ میلیونو افغانیو څخه ۵۴۰ میلیونو افغانیو ته لوړه شوه...

البته دغو ټولو اقداماتو نشو کولای، چې د افغانستان اقتصادي ستونزې حل کړي، دا ځکه چې په کلیو کې سودخورو او سوداګریزې پانګې په کرنیزو تولیداتو باندې منفي اغېزه وکړه او هېواد یې اړ کړ، چې غله له بهر څخه وارده کړي. حکومت د یوه غښتلي او ثبات لرونکي سیاست له غوره کولو او د بهرنیو انحصاراتو د جریان له نوي کولو څخه عاجز و. په دې توګه خلک نور هم ناراضه شول. حکومت د اقتصادي چارو داصلاح په خاطر او د بحران د مخنیوي لپاره بهرنیو مرستو ته ملا وتړله، حال دا چې اقتصادي پروژو، په سوداګرۍ کې بیلانس، د خارجي تادیاتو بیلانس، د پیسو خپرولو او د بیو لوړوالي په مالیاتو کې تجدید نظر ته اړتیا درلوده او باید د بیو له شاخص سره یې انډول برابر شوی وای او د پیسو دوران او د اقتصادي معاملو حجم باید لوړ شوی وای، نو ځکه پروژې نیمګړې پاتې شوې او بیې لوړې شوې همدا رنګه اسعاري ستونزې د اصلاحي پروژو د تمویل مخه نیوله. حکومت ددغو ستونزو د حل لپاره په ۱۹۴۹م. کال کې د سوداګرۍ څاروېو او پیشه ورانو مالیات لوړ کړل او ګمرکي مالیات یې هم په سلو کې پنځوس لوړ کړل.

کله چې پاکستان دښمني پیل کړه او د افغانستان د ترانزیتي تجارت لاره یې بنده کړه، د هېواد اسعاري ستونزې نورې هم زیاتې شوې او تور بازار نور هم پراخه شو. طبیعي خبره ده، چې دغه اقتصادي بحران د هېواد په ټولنیز حالت اغېزه وکړه.

حکومت زمنه کړې وه، چې کوچیان او نیمه کوچیان به (چې دا وخت یې شمېر له یو میلیون تنو څخه زیات و) د کرنیزو اصلاحاتو په لړ کې په ځانګړو سیمو کې مېشت کړي.

له دې امله، چې حکومت د ځمکو د اساسي اصلاحاتو مخالف و، نو ځکه یې دغه خلک شمالي ولایتونو ته واستول او هلته یې ځمکې ورکړې. په دې توګه یې د کورنیو چارو وزارت کې د ناقلینو مدیریت جوړ کړ او له ختیځ څخه یې یو شمېر خلک د هېواد شمال ته ولېږل او هلته یې هغه ځمکې چې دولت د اضافه جریبې په نوم اخیستې وې هغه یې ناقلینو ته ورکړې. دې خبرې د شمال او جنوب د خلکو تر منځ نفاق پیدا کړ او د افغانستان ملي وحدت یې زیانمن کړ، خو ددې پر ځای یې د هندوکش په شمال کې د ګورګان د ویالې په کیندلو سره په بغلان کې د ډېرې ځمکې تر خړوبولو لاندې راوستې، له هغو څخه یې په زرګونه جریبه ځمکه د سلطنت کورنۍ (شاه محمود خان، د پاچا باجه سردار محمدعتیق او د پاچا د

تره زوی علیشاه خان او نورو، ته ورکړې، پاتې نورې ځمکې یې لویو ځمکوالو او پانګوالو او غټو سوداګرو لکه آفتاب الدین خان او نورو باندې وپلورلې.

## د هلمند پروژه

په هر حال، شاه محمود خان د هېواد د کرنیزو او اقتصادي چارو د رغولو په موخه د خپل حکومت له هماغه پیل څخه بهرنیو پورونو، په تېره بیا له امریکې څخه پور اخیستلو ته سترګې نیولې وې، خال دا چې لا د مخه یو ځل په ۱۹۴۵م. کال کې ددې کار زمینه برابره شوې وه. په دې معنا چې حکومت غوښتل چې د هلمند او ارغنداب په حوزه کې نوې ځمکې تر خړوبولو لاندې راولي، امریکې په دغې حوزه کې د افغانستان حکومت ته د سړک جوړولو او اوبو لګولو د پروژو د تاسیس په هکله وړاندیز کړی و. په پایله کې د ۱۹۴۲م. کال په مارچ کې د موریسن کنودسن کمپنۍ سره تړون لاسلیک شو، خو دغه تړون او دغې کمپنۍ ته د امتیاز ورکول له یوې علمي سروې مخکې او پرته د مناقصې له اعلان څخه وشو، حال دا چې وروسته چې کومه سروې کورنیو او بهرنیو متخصصینو وکړه، دا څرګنده شوه، چې د ځمکې شرایط او هغه لګښت چې ورباندې راځي هغومره ګټه نه لري، لکه هغومره به، چې د پروژې په پای کې ترلاسه شي. تړون کې ویل شوي و، چې د هېواد په جنوب کې او کندهار کې به د سړک جوړولو او د اوبو لګولو سیستم د دریو کلونو په ترځ کې د ۵، ۱۷ ملیارده ډالرو په لګښت بشپړ کړي او دا اټکل هم شوی و، چې ۳۰۰ زره هکتاره ځمکه به نوې آباده شي.
داسې تمه وه، چې په ۳۰۰ هکتاره ځمکه باندې به ۱۵۰۰۰ بزګرې کورنۍ مېشت شي او د کډ شمېر کوچیانو ستونزه به حل شي، خو په عمل کې څرګنده شوه، چې د ډېرو کلونو کار په ترځ کې او د سل میلیونو ډالرو په لګښت سره د افغانستان بېوزله ولس ته ددغې لویې پروژې حاصل او پایله یوازې ۳۰۰۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه وه، چې یوازې ۵۰۰ کورنیو ته بس کېدله، نوره تولله شوره لرونکې وه. له دې څخه د نور حاصل اخیستو لپاره لا زیات نور لګښت ته اړتیا درلوده.
په هر حال، د موریسن کنودسن د کمپنۍ په قرارداد سره د لومړي ځل لپاره د افغانستان په تاریخ کې په افغانستان کې د امریکې د متحده ایالاتو لپاره د اقتصادي لاسوهنې لار پرانیستل شوه. خو دغه لومړنی ګام د افغانستان په ګټه نه و او نړیوالو جګړو تر منځ او د آسیایي هېوادونو د خپلوکۍ او آزادۍ تر شعار لاندې یې د امریکې د متحده ایالاتو هغه شهرت او نوم ته هم زیان ورساوه، چې دغه هېواد ترلاسه کړی و. یو شمېر ختیزو هېوادونو له دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د پخوانیو اروپايي استعماري هېوادو پرځای د امریکې د نوی نړیوال دریځ هر کلی وکړ او ډېر هغو زړو ښکېلاکګرو په پرتله یې امریکا غوره وبلله، دا ځکه چې ددغو هېوادونو او په دې لړ کې بیا د افغانستان د اروپاییانو له ښکېلاک څخه زړه چاودلی و.
نو کله چې د امریکې متحده ایالات د هلمند د پروژې له ګوډې سره زمونږ هېواد ته راغله، په پیل کې د افغانستان خلکو دوی ته په ډېرې امیدوارۍ سره کتل. هغه وېره او احتیاط چې دوی اروپايي لویو

دولتونو په اړه لرله، له دغه ستر ځواك څخه يې هغه وېره نه وه، څکه چې دا د ځمکې له هغه بل اړخ څخه زمونږ مرستې ته راغلي و. زمونږ خلکو امریکه د پخوانیو اورپايي ښکېلاکګرو ضد بلله، خو د هلمند د پروژې له تطبيق څخه وروسته د امریکې په هکله د خلکو نظر بدل شو او د خوشبیني ځای بدبيني ونيو.
افغانستان چې د دوهمې نړېوالې جګړې په ترڅ کې د خپل قره قل پوستکي له خرڅلاو څخه په امریکه کې ۲۰ ميليون ډالره زېرمه کړي وو (هغه مهال د پوستکو مارکيټ له انګلستان څخه امريکې ته تللی و) او افغانستان غوښتل، چې د ۱۷ ميليونو ډالرو په لګښت د هلمند پروژه بشپړه کړي، خو چې کتل يې دغه شل ميليونه ډالري زېرمه په دوو کلونو کې له لاسه ووتله او پروژه هم نيمګړې پاتې شوه. د شاه محمود خان حکومت، چې د فواید عامې وزير محمد کبيرخان لودين (دغه سړي په امريکې کې زده کړې کړي دي) په مرسته د هلمند د پروژې په ډنډ کې ننوتی و، له دوو لارو پرته بله لاره ورته نه وه پاتې. يا به د هېواد شل ميليونه ډالره په اوبو کې لاهو شوي بولي او يا به هم د پروژې د بشپړولو لپاره پورته لاس اچوي. دامهال د امريکې د متحده ايالاتو د صادراتو او وارداتو بانك په سلو کې د ۳،۵ ربح په لړلو سره د پېنځلسو کلونو لپاره يوه د ۲۱ ميليون ډالرو قرضه په ۱۹۴۹م. کې (هغه مهال، چې د هلمند د پروژې درېيم کال و) افغانستان ته ورکړه تر څو هغه د موریسن کمپنۍ په هلمند کې مصرف کړي. د شاه محمود حکومت په ۱۹۵۰م. کې له دغې کمپنۍ سره يو بل قرارداد هم لاسليك کړ، چې د هغه له مخې بايد دغه کمپنۍ تر ۱۹۵۳م. پورې پخوانۍ نيمګړې پاتې کارونه بشپړ کړي او د هلمند او ارغنداو په سيمو کې به د برېښنا فابريکې هم ورغوي، دا په داسې حال کې، چې د امريکې په بازارونو کې د افغانستان د قره قل پوستکي ورځ په ورځ ارزانه کېدل تر څو يې په منځنۍ توګه له ۱۴ ډالرو او څلور سنته څخه اته ډالرو ته راټيټ شو او د هغو د صادراتو ټوله ګټه ددې پر ځای، چې صنعتي لوازمو او تجهيزاتو باندې ولګول شي د موريسن د کمپنۍ خولې ته ور اچول کېدل.
تر څو چې ددغې کمپنۍ بې نتيجې فعاليت د هغې د ورځ په ورځ زياتېدونکو لګښتونو او اسراف سره له يوې خوا او له بلې خوا د حکومت د بې کفايتۍ او د حکومت د يو حسابي سيستم د نشتوالي له کبله، ددې لامل شول، چې د افغانستان خلك د حکومت نالايقۍ ته متوجه شي او بيا ورپسې په افغانستان کې دامريکې د دولت د اقتصادي واك عواقبو ته په اند ښنه کې شول، په دې توګه ددغو دواړو لاملونو په وړاندې د خلکو د کرکې او له ناهيلۍ څخه ډك د اعتراض غږ اوچت شو.
تر ټولو زيات دغه عمومي غږ د افغانستان د شورا د اوومې دوزې د پارلمان په تالار کې واورېدل شو، هغه پارلمان (ملي شورا) چې يوازې يو ځل يې د آزادو ټاکنو فرصت موندلی و (حکومت دغه ټاکنې په آزمايښتي توګه او د ملت د سياسي شعور د معلومولو لپاره منلې و) دغې شورا حکومت ملامت کړ او د امريکې د دولت ددغه ډول اقتصادي نفوذ پرمختګ او په هېواد کې يې د واك زياتېدل تر پوښتنې لاندې راوستل. شورا د هلمند د پروژې موضوع او دغې کمپنۍ ته يې د امتياز ورکول د حکومت د يوې سياسي توطيې په توګه او په افغانستان کې يې هغه د امريکې د نفوذ د اعمالولو يوه هڅه وګڼله، نو څکه شورا پرېکړه وکړه، چې د پلان، ماليې، فوايد عامې او اقتصاد وزيران د محکمې په يوه عالي ديوان کې مجازات شي. شورا د ملي شورا غونډې ته د شاه محمودخان او د هغه کابينې رابلل د اعتماد

د رایې اخیستو په نوم مطرح کړل. د خلکو ددغې آزادې شورا دغه پرېکړه د افغانستان په پارلماني تاریخ کې د حکومت د اعمالو په وړاندې د ملت د نظر لومړنی غبرګون و. البته سلطنت، چې حکومت یې هم په لاس کې و. د خلکو د استازیو د پرېکړو د زغملو وړتیا نه لرله،نو ځکه یې د شورا او د هغې د پرېکړو په وړاندې نظامي زور څخه کار واخیست. په هر صورت، وروسته تر دې څخه د خلکو افکار په افغانستان کې دامریکې د متحده ایالاتو ددغه هېواد اقتصادي نفوذ او پراختیا مخالف شول. خو آیا له یوه لوری صنعتي هېواد څخه پرته له دې کومه بله توقع کېدای شي؟ ددې لپاره، چې د صنعتي نړۍ او لویو دولتونو غوښتنې په همدې ډول چلند او دریغ پورې تړلې ده. د لویو صنعتي هېوادونو تولیدات یوه بهرني مارکېټ ته اړتیا لري، چې پرمختللي صنعتي هېوادونو ته د هر شه مارکېټونه په آسیا، افریقا او لاتیني امریکې کې شته. له همدې امله د یوې پېړۍ په ترڅ کې دغه ډول هېوادونه د لویو صنعتي هېوادونو تر نظامي لاسبري لاندې پاتې شول. خو د دوهمې نړېوالې جګړې پای تر رسېدلو څخه وروسته نظامي لاسبری او واك تر یوې اندازې پورې په اقتصادي واکمنۍ بدل شول. له دې امله چې لوی صنعتي هېوادونه مصنوعات تولیدوي او درېیمه نړۍ خام توکي لري او ددغو صنعتي تولیداتو مصرفوونکي هم دي، نو که چېرې دغه منابع (د خامو توکو سرچینې) او مصرف کوونکي د دوی له منګولو څخه ووځي د دوی لویوالی او دغه اوسنی پرتم به هم مخ په ځوړ شي، فابریکې به یې وتړل شي او په میلیونونو وګړي به یې وږي شي. په تېره بیا چې د صنعتي لویو هېوادونو دننه د کورنۍ پیرودنې د قدرت کمښت او د دوی د طبیعي زېرمو زیانمن کېدل په مخه کې دي، نوځکه د صنعتي لویو هېوادونو اقتصادي او حیرانوونکي موسسات ددغه ډول بحران (کړکیچ) د مخنیوي لپاره هرې ښې اوبدې وسیلې څخه کار اخلي، اګر چې که دغه ډول هلې ځلې یې سیمه ییزې جګړې هم راونښلوي او آن که یو بل نړېوال جنګ هم وشي. دوی دغه وسایل په کار اچوي. د صنعتي لویو هېوادونو دغه اقتصادي مجبوریتونه دي، چې دوی خپل ګڼ شمېر صنعتي محصولات او اضافي بې شمېره پانګې د مرستو، پورونو، سوداګرۍ او په نورو نومونو سره وروسته پاتې هېوادونو ته ورلېږي او داکار یې دوام لري. البته دغه اقتصادي سیاست ددې خنډ ګرځي، چې یو پرمختیایي هېواد وکولای شي، چې خپله زېربنا او اقتصادي بنسټ جوړ کړای شي. البته استثناء په ځانګړو حالاتو کې چې هغه په خپله یوه لوی صنعتي پانګوال هېواد له اقتصاد سره تړلی وي، او ددغه وروسته پاتې هېواد اقتصادي ترقي او زېربنا د یوه پرمختللي صنعتي هېواد په ګټه وي. نوځکه دا د وروسته پاتې هېوادونو د خلکو دنده ده، چې له پرمختللو پانګوالو هېوادونو او د هغوی اقتصادي سیاست څخه د شکایت پر ځای خپل هېواد له ترلتیا څخه وژغوري او په خپل ځان ویسا شي. که نه پرته له هغه به ددغو هېوادونو د اقتصادي حالت خرابوالی د دوی د ټولنیز وضعیت د لا زیات خرابوالي لامل شي. د دوی ملي ګټې به د لویو صنعتي او پانګوالو هېوادونو له غوښتنو څخه ځار شي،نو بیا به په دې حالت کې د خپلو ځمکې لاندې زېرمو د ایستلو پر ځای او د خپلو کورنیو ملي صنایعو د انکشاف او پراخولو پر ځای او د خپل ملي فرهنګ او کلتور د غوړېدا پر ځای د دوی ټوله شتمني به له بهر څخه په وارد شویو تولیداتو لګېږي او خپل لومړي د اړتیا وړ مواد به له لویو هېوادونو څخه پلوري او د صادراتو بیه به یې ورځ په ورځ د وارداتو په پرتله

راکمېږي او د بيو کنترول او تاکل به هم د لويو صنعتي هېوادونو په لاس کې وي او وروسته پاتې هېوادونو دننه به د خريد توان کمېږي. په دې توګه په ټولنه کې بدلون د ناپوهۍ، لوږې، ناروغيو په تېره بيا د اخلاقي فساد خوا ته ولاړ شي.

البته صنعتي انقلاب او د اقتصادي بنسټيزو اصلاحاتو راوستل، آن دا چې له بهرنيو پانګو څخه سمه ګټه اخيستل په وروسته پاتې هېوادونو کې يوه صادق، لايق ملي او رسېدلي حکومت ته اړتيا لري. دغه ډول يو دولت بايد په رښتيا هم د خلکو استازی وي، تر څو د خپلو دندو د ترسره کولو تر څنګ د لويو هېوادونو له مخالفت او له کودتا ګانو څخه هم په وېره کې نه وي. دا، څکه چې لوی پانګوال هېوادونه دا غوره بولي، چې په دربېمه نړۍ کې هېوادونو کې د خپلې خوښې رژيمونو څخه ملاتړ وکړي او د پيسو او وسلې په ملاتړ يې پياوړی کړي او ملي حکومتونه په دسيسه او کودتا له منځه يوسي. د لويو قدرتونو دغه غوښتنه د لرې ختيځ په خوړيو اوخواشينوونکو پېښو، د منځنۍ ختيځ په پېښو او په ټوله آسيا، لاتينه امريکا او افريقا کې ليدلای شو. آيا اندونيزيا او سوکارنو ايران او ډاکتر مصدق، عراق او کريم قاسم، کانګو او پاتريس لوممبا او داې نورو دبشريت په وړاندې کوم جنايت کړی و، چې په خاورو او وينو کې وغورځول شول. خودوی غوښتل چې خپل ملي اقتصاد ته وده ورکړي، خپله سياسي خپلواکي وساتي، ټينګه يې کړي او خپلو هېوادونو کې د امپرياليزم ټپونه په خپلوځورول شويو هېوادونو کې ورغوي.

په هر حال، د شاه محمودخان د حکومت هلې-ځلې په اقتصادي چارو او په تېره په کرنه او صنعت کې د ېرې لږ او هغه هم زياتره بې پايلې وې. دده د ادعا او ژمنو برخلاف نه يې پوره اندازه انرژيکي ستيشنونه جوړ کړل او نه يې د نساجي فابريکې او نه هم د خوراکي توکيو توليد لوړ شو او نه هم د ځمکو اصلاحات وشول. صنعتي او کرنيز وضعيت په هماغه پخواني بد حالت پاتې شو، چې په پايله کې بزګران او پيشه وران نور هم بې ځمکې شول او مخ په ماتې او بد حالت روان شول. د ښارونو او کليو په بيکارانو کې زياتوالی راغی د بهرنيو وارداتي توليداتو او صنعتي اقلامو له کټو ډکه سوداګري، احتکار، او سود اخيستل او قاچاقلکه د پخوا په شان روان وو. بډې اخيستل او اختلاس موجود و، په همدې ډول يوه حالت کې حکومت د ۱۹۵۰م کال په جولای کې له شوروي اتحاد سره د تادياتو او مالونو د تبادلې ۱۴ توکيز تړون لاسليک شو او د ۱۹۵۱م کال په فبرورۍ کې له متحده ايالاتو سره د تخنيکي او اقتصادي مرستو تړون لاسليک شو.

دولت د ۱۹۵۲م. کال په اپريل کې د پترولو د پلټنې موسسه د هغې د استخراج له انحصار سره تأسيس کړه. په همدې وخت کې شوروي اتحاد د اته ميليونو ډالرو په ارزښت يو پور په کابل او مزار شريف کې د تيلو د زېرمو د جوړولو، په مزار او ترمذ کې د تيلو د لېږدلو نل ليکې او په کابل او پلخمري کې يې د دوو سيلوګانو او په کابل کې د يو شمېر لارو او سړکونو د جوړولو او په جلال آباد کې د يوه روغتون د جوړولو لپاره افغانستان ته ورکړ.

Scanned by CamScanner

# دریم

# بهرنۍ سیاست

د شاه محمود خان د حکومت تر رامنځته کېدو پورې د واکمنې کورنۍ د سلطنت سیاست په انګلیس باندې د ډډې لګولو یو اړخیز سیاست باندې ولاړ و، چې له شوروي سره یې اړیکې نه وې، خو د دوهمې نړېوالې جګړې له پای ته رسېدو څخه وروسته، چې په نړۍ کې نړېوال سیاست بدل شو، د هېواد کورني او بهرني سیاست هم بدلون وموند. د دولت نوی سیاست د ناپېیلتوب تر نقاب لاندې و. په عین حال کې هم له امریکې او هم له شوروي اتحاد سره د اړیکو د یو شانته پر مخ بیولو سیاست په پام کې نیول شوی و، دا ځکه چې د انګرېزي امپراتورۍ نړېوال قدرت وروسته تر دوهمې نړېوالې جګړې څخه خپل ځای دوو نویو نړېوالو قدرتونو یعنې شوروي اتحاد او د امریکې متحده ایالاتو ته ورکړ. افغانستان چې پخوا په ۱۹۳۴م. کې د سپتمبر په ۲۵ نېټه د ملګرو ملتونو د ټولنې غړیتوب ترلاسه کړی و، اوس یې د ۱۹۴۶م. په نومبر کې د ملګرو ملتونو د سازمان غړیتوب ترلاسه کړ.

## د شوروي اتحاد سره اړیکې

د شاه محمود خان حکومت په لومړیو کې په ۱۹۴۶م. کال کې د سرحدي مسایلو په هکله یو تړون له شوروي اتحاد سره لاسلیک کړ او د ۱۹۴۷م. کال په اپریل کې یې له دغه دولت سره د مخابراتو د مبادلې تړون لاسلیك کړ. په همدې کال کې یو افغاني هیئت د دواړو هېوادونو تر منځ په وچه کې د پولو د روښانه کولو په خاطر تاشکند ته ورغی. یو کال وروسته له دې څخه (په ۱۹۴۸م. کې) د دواړو دولتونو تر منځ د پولو د نوي کولو پروتوکول لاسلیك شو. همدا رنګه د افغانستان اوشوروي اتحاد تر منځ سوداګریزې اړیکې د ۱۹۴۷ او ۱۹۵۰ کلونو د مالونو د تبادلې او تادیاتو تړون په واسطه تنظیم شوې په دې توګه د ښه ګاونډیتوب اړیکې په آرامه فضا کې په غلې ډول روانې وې.

## د امریکې له متحده ایالاتو سره اړیکې

مخکې په ۱۹۳۶م. کال کې د مارچ په ۲۲مه نېټه افغانستان د امریکې له متحده ایالاتو سره سیاسي اړیکې پیل کړې وې، خو د ۱۹۴۲م. کال په جولای کې په کابل کې د امریکې د دولت سیاسي نمایندګي پرانیستل شوه. د شاه محمود خان حکومت د ۱۹۴۶م. کال په مارچ کې د هلمند د پروژې تړون د امریکایي موریسن-کنوډسن له کمپنۍ سره لاسلیك کړ. په ۱۹۴۸م. کې د امریکې او د افغانستان په

او لویو سفیرانو کچې ته لوړ شول. په ۱۹۴۹م. پلازمېنو کې د سیاسي نمایندګانو دریځونه د سفارت او لویو سفیران کچې ته لوړ شول. په ۱۹۴۹م. کې د امریکې د متحده ایالاتو صادراتو او وارداتو بانک افغانستان ته د ۲۱ میلیونو ډالرو پور ورکړ او د شاه محمود خان حکومت د ۱۹۵۰م. کال په اپریل کې د موریسن ترون بیا نوی کړ، د ۱۹۵۰م. کال په مارچ کې د متحده ایالاتو د جمهوررییس ځانګړی استازی فلیپ جسوب کابل ته راغی دا هغه مهال و، چې د پښتونستان د موضوع په سر د افغانستان او پاکستان اړیکې ترینګلې شوې وې. داسې ویل کېدل، چې دغه استازي دواړه هېوادونه هم افغانستان او هم پاکستان نظامي بلاك ته د غړيتوب په خاطر وروبلل او د پښتونستان له موضوع څخه د سترګې پټولو په هکله یې هم افغانستان ته وینا وکړه. همدا رنګه کله، چې د ایران او افغانستان تر منځ د هلمند د اوبو د استفادې د چلند په سر د دواړو هېوادونو تر منځ ستونزه پیدا شوه دا ځل د امریکا متحده ایالات د کاناډا او چیلي له هېوادونو سره یو ځای د منځګړو په توګه په ۱۹۵۰م. کې را ووړاندې شول، خو کومه پرېکنده غوره پایله ورڅخه ترلاسه نه شوه. وروسته بیا په ۱۹۵۱م. کې د امریکې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال (مك ګي) د افغانستان او پاکستان تر منځ د منځګړي په توګه کابل ته راغی، خو دده له راتګ څخه هم کومه پایله ترلاسه نه شوه.

د ۱۹۵۱م. کال په فبروري کې د شاه محمود خان حکومت له متحده ایالاتو سره د تخنیکي او اقتصادي مرستو تړون د ترومن (د څلورو تکیو) پر بنسټ لاسلیك کړ. د ۱۹۵۲م. کال په جون کې د دواړو هېوادونو تر منځ د تخنیکي مرستو د پروژې تړون او د ۱۹۵۲م. کال په جون کې د دواړو هېوادونو تر منځ د تخنیکي مرستو د پروژې تړون لاسلیك شو، چې له هغه سره سم د شاه محمود خان حکومت دا ومنله، چې که له نورو هېوادونو یا نړیوالو موسساتو څخه یې تخنیکي مرسته غوښتله باید د امریکې متحده ایالاتو ته پوره تفصیلي معلومات ورکړي. او هم به د متحده ایالاتو مشاورین او متخصصین د کرنې، د کانونو د پلټنې، صنعت، پوهنې، عامه روغتیا. لارو او د افغانستان د طبیعي زېرمو او سرچینو په برخو کې په کاررونو ګومارل کېږي. له دې څخه وروسته د امریکې متحده ایالاتو ته د افغاني محصلانو په لېږلو کې زیاتوالی راغی.

## د انګلیس له دولت سره اړیکې

د نړیوالې دوهمې جګړې له پای ته رسېدلو څخه یو کال مخکې، د انګلیس د دولت اړیکو له افغانستان سره خپله هغه پخواني زړه بنه له لاسه ورکړې وه او د هغو پر ځای د دغه هېواد د ډیپلوماسۍ نوې دوره پیل شوې وه. په ۱۹۴۴م کال کې د غازي لیسې چارې او اداره د انګرېزي ښوونکو په لاس کې ورغله او په کابل راډیو او د نساجي فابریکې او نورو ځانګو کې انګلیسي متخصصین وګومارل شول او د انګلیس دولت د هندوستان له پرېښودلو څخه وروسته په ۱۹۴۸م. کې د دواړو هېوادونو استازي د وزارت مختاري له دریځ څخه د لویو سفارتونو دریځ ته اوچت کړل. البته دغو تولو نویو اړیکو د افغانستان او انګرېزانو د اړیکو ظاهري جوړښت راڅرګند اوه. خو د اړیکو هغه پټ روح، چې د

انګلستان د دولت او د سلطنت تر منځ و، دنیمې پېړۍ په اندازه یې رېښې درلودې او ځکه یې پخوانۍ بنه پاتې و، چې هم اغېزمن و او هم فعال، مګر په سترګو نه لیدل کېده.

## له نورو هېوادونو سره اړیکې

د شاه محمود خان حکومت په ۱۹۴۷م. کې د سویډن له دولت سره یو تړون لاسلیک کړ او په ۱۹۴۹م. کې یې له ایران سره هوایي پروتوکول لاسلیک کړ. په ۱۹۵۰م. کې یې په کابل کې د کوامنتانګ سیاسي نمایندګي وتړله، چې د همدې کال د جنوري په میاشت کې یې د چین د خلکو جمهوریت په رسمي توګه وپېژاند. همدا رنګه په همدې کال یې د هندوستان له جمهوري دولت سره د دوستۍ تړون لاسلیک کړ او هم یې د اردن، لبنان، اندونیزیا او سوریې له حکومتونو سره د دوستۍ تړونونه لاسلیک کړل. د افغانستان او مصر د دولتونو سیاسي استازي هم په کابل او قاهره کې د لویو سفیرانو تر درجې لوړ شول. په دې ترڅ کې له ۱۹۴۷م. څخه تر ۱۹۵۰م. پورې د افغانستان او د ایران د حکومتونو تر منځ د هلمند د اوبو په سر شخړې دوام درلود او د امریکې د متحده ایالاتو، کاناډا او د چیلي د هېوادونو د منځګړیتوب کمیسیون دغه پېښه په پرېکنده ډول سره حل نشوه کړای. د افغانستان دولت د ایران فرهنګي هیئت ته (د ښاغلي اصغر تر مشرۍ لاندې) په کابل کې په دوستانه بڼه ښه راغلاست ووایه (په ۱۹۴۷م. کې) او بیا یې په راتلونکي کې (په ۱۹۵۰م. کې) د نفتو د کمپنۍ د قرارداد ضد کې د ایران د دریځ ملاتړ وکړ.

## له پاکستان سره اړیکې

خو په دغه دوره کې د افغانستان د بهرني سیاست لویه غوټه د پښتونستان او بلوچستان د مسایلو په سر باندې د پاکستان له حکومت سره د سیاسي اړیکو ځرنګوالی و. په دغې موضوع باندې د پاکستان او افغانستان شخړه له ټولو ګاونډیو هېوادونو سره د مناسباتو او اړیکو په منځ کې تر ټولو څخه مهم دریځ لري. د هندوستان د خلکو د خپلواکۍ غوښتونکې غورځنګ د بریالیتوب په پایله کې د انګلسیانو د څو پېړیو ښکېلاکي واک په پای کې د هند په نیمه وچه کې پای ته ورسېد او د ۱۹۴۷م. کال د جون په دریمه نېټه د هندوستان د وېش اعلان وشو. په دې توګه د هندوستان او پاکستان په نومونو دوه هېوادونه د افغانستان تر څنګ جوړ شول. له پولې څخه پورې غاړه پښتنو او بلوڅانو هڅکله د بریتانیا د واک په وړاندې او د انګرېزانو د زور او فشار په مقابل کې خپله مبارزه نه وه درولې، اوس یې هم خپلو دغو مبارزو ته همداسې دوام ورکړ. د همدغه کال د جولای له دریمې څخه تر اوولسمې نېټې پورې په محکوم پښتونستان کې یو درواغجن او قلابي او په نیمګړې بڼه رای اخیستنه وشوه، چې له توطئې ډکه وه. په دغه ریفورنډوم کې پنجابیانو او هندیانو ته هم د رای ورکولو چانس ورکړل شو، په داسې حال کې چې د سرحد صوبې د شمال لویدیځ پښتنو سره یې هېڅ تړاو نه درلود.

Scanned by CamScanner

پښتنو خپلواکي غوښتونکو له دغه ريفراندم سره پرېکړون وکړ او برخه يې پکې وانخيسته، حال دا چې له ډيورنډ څخه پورې غاړه د سند تر سيند پورې ځو ميليونه پښتنو له دغه ډول راى اخيستنو سره کوم کار نه درلود.

په هر حال، د راى اخيستنې (ووټ اچولو) پر مهال څه نا څه له درې لکو تنو څخه رايه واخيستل شوه، چې د رايې اچولو پر مهال يوې خوا ته د هندوانو کتاب او بلې خوا ته قرآن شريف ايښودل شوى و، تر څو ووټ اچوونکي يوه ته يې ورشي طبيعي خبره وه، چې مسلمانانو ټولو د اسلام خوا نيوله او اکثريت هم. ددغه ووټ اچولو موخه دا وه، چې ووټ اچوونکي اړ کړي، چې يا د پاکستان مسلمان دولت ته يا هم د هندوستان هندو دولت ته رايه واچوي. درېيمه کومه بله لاره نه وه، يعنې له افغانستان سره د يو ځاى کېدو يا هم د سيمې د خپلواکه کېدو لپاره کوم څه نه و طرح شوي، خو سره له دې ټولو په سلو کې دوه پنځوس ووټ اچوونکو د اسلام په نوم د پاکستان خوا ته ووټونه واچول.

د پاکستان هېواد د ۱۹۴۷م. کال د اګست پر ۱۴مه نېټه د سند د بلوچستان د محکوم پښتونستان، بنګال او پنجاب له سيمو څخه جوړ شو، خو هغه لاډېر خوار او ضعيف و، دا ځکه چې دا مهال د زښته ډېرو هندانو او مسلمانانو وينې په دغه ويش کې توې شوې او پاکستان لا هم هندوستان ته په خپل سر باندې د يو ګواښ په توګه کتل، په تېره بيا چې د کشمير لانجې د دوى تر منځ د شخړې په اور باندې نور تيل هم شيندل، خو د انګليس دولت د پاکستان دومينيون د آسيا د وچې په دغه برخه کې د سوسيالستي نړۍ په وړاندې د يوې نظامي اډې په توګه غوره کړ، دوى لا دا مهال هم د افغانستان د آزادو سرحدونو او کوټې، د سيمو اداره په خپل لاس کې لرله، له همدې امله انګرېزانو له ټولو څخه هاخوا د ټولو پښتنو په سيمه کې پاکستان (د ډيورنډ له کرښې تر سند پورې) خپل ځاى ناستى معرفي کړ. د انګليس د مستعمراتو وزير په ۱۹۵۰م. کال کې اعلان وکړ، چې پاکستان د برتانوي هند د مقاماتو د دندو د حقوقو لرونکى وارث او د ډيورنډ له کرښې دې خوا سيمو کې د انګرېزانو ميراث دى. دا يوا ځې نه، بلکې وروسته بيا د امريکې متحده اياالتو هم د (سنتو) پکټ په جامه کې (ډيورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان تر منځ (نړېواله پوله) وبلله. دا ځکه چې د انګرېزانو او امريکا دواړو دولتونو دا هوډ درلود، چې د شوروي اتحاد په جنوب کې له اسلامي هېوادونو څخه له اسلامبول څخه تر کشمير پورې يو زنځير جوړ کړي او د پان اسلاميزم تر بيرغ لاندې په يوه نظامي پکټ (تړون) کې د ايران، افغانستان، عراق، ترکيې او پاکستان هېوادونه سره راګډ کړي او د مديترانې له شمال ختيځ څخه د عربو تر سمندر پورې يو اوږد سنګر جوړ کړي، چې دغې موخې ته د رسېدلو لپاره د پاکستان د نوي جوړ شوي دولت پياوړي کولو او منظم کولو ته اړتيا وه، خو دغه اوږده نقشه داسې جوړه شوې وه، چې بايد د افغانستان په زيان بشپړه او تطبيق شي: يعنې افغانستان بايد لکه د انګرېزانو د واکمنۍ د دورې په شان له سمندر سره بې رابطې او غرې يې غوڅ شوى او له جغرافيايي پلوه پرې شوي پاتې شي او د نظامي يوه پکت يوه کړى، يې هم بايد په پښو کې وى. فريزر تتلر په کابل کې د انګرېزانو بو تن مختار وزير په ۱۹۴۱م. کې هم په خپل يوه کتاب "افغانستان" کې ليکلي و او دغه کتاب په ۱۹۵۰م.

Scanned by CamScanner

کې په لندن کې چاپ شو، په دې هکله وايي:

د آزاد پښتونستان سرحدي قبايل وسلې لري او په غوسه دي او بريد ته چمتو دي دوى له افغانستان ځاى په هره شيبه کې حملې ته تيار دي، چې پر هندوستان باندې راشي. د شمالي هند دغه ګوانښ هرايو د منځنۍ آسيا د سولې دغه خطر فقط هغه وخت رفع کېداى شي، چې د افغانستان او پاکستان دوه دولتونه سره يو ځاى شي په هر شکل، چې وي اګر که ددغو دوو هېوادونو يو ځاى کېدل له روحي، اقتصادي، سياسي او ملي پلوه هم امکان ونه لري، خو بيا هم تاريخ حکم کوي، چې بايد سره يو ځاى ني او دغه اختلاط بايد عملي شي، که چېرې دغه عمليه په سوله ونه شي بايد په زور سره عملي شي. راځکه چې افغانستان او پاکستان ددغه اختلاف له امله يا د ډيورنډ کرښې د مزخرفاتو له امله يو بل هره جلا او ويشل شوي وي، د انقلاب لپاره ډېر ښه فرصت برابرېږي، کله چې د آمو له سيند څخه پورې غاړه د شوروي صنايع پرمختګ وکړي او وغواړي چې د سمندر خوا ته لاره پرانيزي، نو ښکاره خبره ده، چې په منځنۍ آسيا کې يواځنى سمندري بندر د دوى لپاره د کراچۍ بندر دى، چې د هغه د وسپنې پټلۍ به د کشک، هرات، کندهار او چمن له لارې پاکستان سره ونښلول شي، خو د نه اتحاد په صورت کې او د انګرېزانو او امريکې د نه ملاتړ په صورت کې به د شمال له لوري يرغل وشي او د هندوکش کنترول به د پرديو په لاس کې پرېوځي. تاريخ ثابتوي، چې هر هغه څوك چې هندوکش په لاس کې ولري، د هندوستان کلي (کونجي) به هم له هغه سره وي، خو ددې برعکس که افغانستان او پاکستان سره يو شي، آرام او هوسا به وي او په ختيځ کې د يوې پياوړې نظامي اډې په جوړېدو سره به له باسفور څخه د پامير پورې اسلامي دولتونه مهم رول ولوبوي... په جنوبي آسيا کې د مسلمانانو د وحدت سا اتل د امريکې او برېتانيا په ګټه ده... د هند د شمال لويديځ سيمو په خلکو کې د کمونيزم د خپرېدو [illegible] ډېرزيات نه دى، دا ځکه چې دغه ډول دکتورين نشي کولاى، چې په آسانۍ سره د اسلام په استحک[illegible] کې ريښه وځغلوي، خو يوه فوق العاده نارضايتي او ډېر زيات مادي فقر دغه نتيجه درلودلاى [illegible] (فريزر تتلر افغانستان نومې کتاب ۲۹۷، ۲۹۹، ۳۰۰ مخونه).

په هر حال، د افغانستان حکومت له پاکستان سره په مبارزه کې او د پښتونستان پر سر په لانجه کې زښت وښود او په شا تګ يې وکړ تر څو، چې د پاکستان په ګټه تمام شو. په دې معنا، چې د شاه محمود خان حکومت د پاکستان د جوړېدو په هماغه شروع کې پرته له کوم قيد او شرط څخه ددغه نوي هېواد خپلواکي په رسميت وپېژندله او په کابل کې يې د هغوى سفارت ومانه (۱۹۴۷م.) په دغه بې ځنډه بيړه او ډېر شتاب کې د هغه د حکومت دليل دا و، چې د هندوستان له ويش (۱۹۴۳ - ۱۹۴۷م) څخه مخکې د ديپلوماسۍ له طريقه هغو تماسونو او اړيکو ته اشاره کوله، چې د انګليس له دولت سره يې د پښتونستان د مسئلې په هکله کړي و او له بلې خوا دوى د انګليس د دولت سياسي لاملونو او ژمنو ته سترګې نيولې وې. کله چې پاکستان رامنځته شو د افغانستان حکومت دا خبره ورسره ياده کړه او په دوارو خبرو کې يې همدا ورته وويل، چې: بايد هغو افغانانو ته چې له ډيورنډ کرښې څخه تر سند درياب پورې پراته دي دا موقع ورکړل شي، چې د يوه ريفرنډم له طريقه خپل برخليك وټاکي. دا غوښتنه

او دغه ډول یوه نقشه هماغه یواځینۍ هیله وه، چې هم انګرېزانو او هم پاکستان یې تیه لرله، دا ځکه چې دغه ډول غوښتنې یې د یوه محدود او نیمګړي ریفرنډم په واسطه او د یوې توطئې په جوړولو سره رد کولای شوه او رد یې هم کړه. حال دا، چې د افغانستان په میلیونونو وګړي او د پښتونستان اوبلوچستان خلکوله سند څخه دې خوا ته پاکستان نه غوښته، بلکې هغه یې سند څخه پورې غاړه شړل غوښتل او د پردیو له ښکېلاك څخه یې د پښتونستان او بلوچستان آزادي غوښتله. دا مهال ګڼ شمېر هیئتونه. سیاسي او ملي خلك له چترال څخه تر بلوچستان پورې کابل ته تلل او راتلل او د دیره جاتو، پېښور، کلات، باجوړ او چترال مشران هم ددغه غورځنګ په سر کې ولاړ وو. د ډیورنډ له کرښې پورې غاړه د ریفرنډوم په هکله د شاه محمودخان د حکومت د وړاندیز معنا همدا وه، چې ګواکې د افغانستان د هغه وخت حکومت د (ډیورنډ) تپل شوې کرښه مني او له پاکستان څخه له اقتصادي، سیاسي، تاریخي او ستراتیژیکي پلوه د غصب شویو ځمکو د بېرته اخیستلو هېڅ کومه دعوا نه کوي او د انګرېز له خوا په دغو زغمل شویو تحمیلي سرحداتو کې، چې د یوه بندي هېواد او له سمندر سره یې د اړیکو پرې کېدو په حالت کې قانع دی. البته د شاه محمودخان د حکومت دغه ډول چلند، په دغې برخې کې د سیاسي مبارزې نوښت، د پاکستان په لاس کې ورکړ.

دا یواځې نه، بلکې شاه محمودخان د سیاسي خبرو-اترو د دوام لپاره د ۱۹۴۷م. کال په نومبر کې پاکستان ته یو تن د اعلیحضرت ځانګړی اوفوق العاده استازی په توګه واستاوه، خو د اعلیحضرت دغه ځانګړی استازی یو بې تجربې ځوانکې او د نجیب الله په نوم د امیردوست محمدخان له لمسیانو څخه یو تن و، چې نوی یې په کار پیل کړی و. د افغانستان د سلطنت مقام دغه ځوانکی په ډېر کم عمر او تجربې سره د خپلوۍ اړیکو له مخې د دولت لوړو اداري دریځونو ته راوستلی و او د بهرنیو چارو سیاسي لوی مدیریت، د معارف وزارت، په هند کې افغاني سفارت او په امریکې کې یې د سفارت دندې ورکړې وې. خو هغه بیا وروسته په امریکا کې د افغانستان لپاره کار کول پرېښودل او هماله یې د تل لپاره ژوند غوره کړ او هماله مړ شو. په هر حال، دا دی په یوه ډېره حساس او تاریخي فرصت کې، چې د دوهم نړېوال جنګ او په نړېواله کچه د سیاست د بدلون په پایله کې برابر شوی و او افغانستان ته یوه ښه شېبه په لاس ورغلې وه، یوه ډېره مهمه پېښه او د پښتونستان او بلوچستان پر سر یوه واقع شوې ستونزه د نجیب الله خان لاس ته وسپارل شوه. له بده مرغه په عمل کې ولیدل شول، چې د افغانستان ابرو او ګټې لکه د یوه ډك جام په شان په یوه لړزېدونکي لاس کې ورکړل شوې.

په دغه مهمه ملي موضوع کې د نجیب الله خان لوري بالمقابل په پاکستان کې په استعماري سیاست باندې پوه او تجربه لیدلې یوه ډله لیوان ناست وو لکه محمدعلي جناح ګورنر جنرال، صدراعظم لیاقت علي خان، دبهرنیو چارو وزیر سرظفرالله خان، د بهرنیو چارو سکرتر اکرم الله خان، د بهرنیو چارو سکرتر آقا شاهي، د مواصلاتو وزیر عبدالرب نشتر، د مالیې وزیرغلام محمدخان او د سرحد دچارو صدراعظم عبدالقیوم خان او نورو دغو ښاغلو نجیب الله خان د ۱۹۴۷م. کال د نومبر له ۱۴مې څخه د ۱۹۴۸م. کال د جنوري تر میاشتې پورې هاخوا دا خوا په لېدنو، کتنو، میلمستیاوو او تیت او پرك

شفاهي خبرو-اترو باندې بوخت وساته او له يوه ښاخ څخه بل ته الوتل، تر څو چې هغه يې د پښتونستان، بلوچستان او افغانستان په زيان او د پاکستان په ګټه بېرته ناکام اوتش لاس راواستاوه؛ کابل ته په راتګ سره نجيب الله خان ځانته د برياليتوب قيافه غوره کړې وه او ددغو خبرو-اترو تاريخچه يې د کابل په راډيو کې بيان کړه او د (بيانات) په نوم يوه رسمي کتاب کې يې په ۱۳۲۷ل. کال کې ددلوې په پېنځلسمه نېټه هم دغه موضوع خپره کړه.

نجيب الله خان، چې په غير شعوري توګه د پاکستاني سياستوالو د سايکالوژيکي چلند تر اغېزې لاندې راغلي و، په خپله په دې هکله داسې ليکي: "د پاکستان مامورينو هم د سرحدي سيمو، کويټې اوکراچۍ ته زما د ورتللو پر مهال، هم هلته زما د اوسېدو پر مهال اوهم زما د راستنېدو پر مهال، په ډېره دوستۍ، ميلمه پالنه او تاوده هر کلي سره زما درناوی وکړ، چې دا زمونږ حکومت او هېواد ته د دوی د درناوي او د دوستۍ د احساساتو ښودنه کوي، چې دا کار يې زما او زما د متبوعه حکومت د منني او ستاينې وړ دی" (د بيانات کتاب، ۳۹ مخ).

نجيب الله خان د پاکستاني سياستوالو له خوا په داسې يوه سياسي کړۍ کې تجريد او را ايسار شوی و، چې هلته راورسېدلو په ټوله موده کې يې له هېچا سره او آن له اړونده افغانانو سره هم اړيکې نه وې. دی په خپله ليکي:

"دلته لازمه بولم، چې ووايم، تر هغه وخته پورې، چې رسمي خبرې نه وې پيل شوي، او د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت ته زما د وړانديز د ټرون پروژه نه وه وړاندې شوې، ما نه غوښتل چې زمونږ د خبرو په هکله په پاکستان کې له خپلو پښتنو ورونو سره خبرې وکړم او نه مې غوښتل، چې فرضاً هلته په پاکستان کې داسې مفکوره پيدا شي، چې ګواکې افغانستان غواړي، چې په پټه له سرحد څخه پورې غاړه افغانانو سره اړيکې ولري" (همدا کتاب: ۲۵ مخ).

نجيب الله خان په دغه ډول يوې روحيې سره له پاکستاني سياستوالو سره خبرو ته کښېناست او داسې يې وويل: "مونږ دا نه وايو، چې د دوی (پښتنو) د آزادۍ، هويت او حقوقو خونديتوب دې د پاکستان او د هغوی د مسلمانانو ملګرو په زيان تمام شي... خو يوازې يو شی، چې غواړو هغه دادی، چې د سند او د ډيورنډ کرښې تر منځ اوسېدونکي افغانان د خپلې بشپړې پېژندنې سره يو واحد هېواد جوړ کړي او هغه به داسې يو نوم ولري، چې د دوی د هويت ښودنه وکړي... مونږ غواړو، چې زمونږ د آزاد سرحد د ورونو خپلواکي او مشروع آزادي خوندي پاتې شي، تر نظامي فشار او غلامۍ لاندې رانشي او اړيکې يې له پاکستان سره د موافقې پر بنسټ وي او له نورو افغانوورونو اوپښتنو سره يې د وحدت او پيوستون لار پرانيستې وي، چې دا به د پښتنو ديوه اتونوم (خودګردان) حکومت په بڼه وي، او له دوی سره بايد مرسته وشي، چې د ژوند مادي او معنوي کچه يې اوچته شي ... ما دا خبره هم دپاکستان د حکومت غړو ته وويله، چې: "نبايد چې زما راتګ او زما خبرې او نظريات او زما د حکومت اقدامات د پاکستان په چارو کې لاسوهنه وګڼئ او يا يې د خپل حيثيت مخالفې وبولئ" (و.ګ. د بيانات کتاب، ۵۱ مخ).

البته ددغه پیشنهاد معنا او د اعلیحضرت د ځانګړي ممثل او "د افغانستان د فوق العاده استازي د
وړاندیز متن روښانه و، هغه دا چې د افغانستان حکومت د پښتونستان هغه ډول آزادي، چې د
پاکستان په زیان تمامه شي نه غواړي، آزاد سرحدات پرېږدي، چې له محکوم پښتونستان سره وتړل
شي، د ډیورنډ کرښه مني، افغانستان ته هېڅ کوم امتیاز نه غواړي، صوبایي اتونومي، چې په خپله
دپاکستان فیدرالي سیستم یې غواړي او عملاً موجود هم و تائید، تصدیق او مني. ددغه ټول بایلات په
مقابل کې یې یواځې یو نوم له پاکستان څخه د هغو افغانانو لپاره غوښتی و، چې له ډیورنډ څخه پورې
غاړه د سند تر سیند پورې پراته وو د ۱۹۴۸م. کال د جنوري په لومړۍ نېټه د پاکستان د بهرنیو چارو
وزیر ظفرالله خان کله، چې ولیدل چې نجیب الله خان ماتې خوړلې، نو لاندې لیک یې ورته ولیک:
"د هغو خبرو-اترو په ترڅ کې، چې ستاسې او د بهرنیو چارو تر منځ وشوې داسې ښکاري، چې تاسې
جلالتماب د پاکستان سیاست د هغو قبایلو په اړه، چې د ډیورنډ له کرښې څخه دې خوا ته زمونږ طرف
ته اوسېږي. او د پاکستان دننه د ولایتونو د موقعیت په هکله ښه نه پوهېږئ. ویارم چې وضعیت په
لاندې توګه د جلالتماب په اطلاع رسوم: د شمال لویدیځ سرحد قبایلو د پاکستان د جوړېدو لپاره ډېرې
زیاتې هلې-ځلې کړې دي او هغه مهال، چې دغه نوی اسلامي هېواد نوی جوړېده.دوی په دغه هېواد کې
د اوسېدلو لپاره خپل کلك هوډ ښکند کړ، قایداعظم د قبایلو آزادي منلې ده، هغوی ته یې ډاډ ورکړی
دی، چې د پاکستان حکومت به د دوی معاشونه دوی سره شوي تړونونو سره سم او ژمنې په هکله تر
هغه وخته دوام ورکړي تر څو، چې د قبایلو او د پاکستان د حکومت استازي سره یو ځای کیني او د
شمال لویدیځ قبایلو په برخه کې یو بل نوی تړون سره لاسلیك کړي. د ولایتونو د قانون وضعیت په هکله
باید ووایو، چې وروسته تر هغه، چې په شمال لویدیځ ایالات کې ریفرنډم پای ته ورسېد، قایداعظم
ددغه ولایت موقعیت په خپله یوه وینا کې په ځانګړې توګه تشریح او روښانه کړ. نوموړي وویل، چې تر
کومه چې موضوع د سرحد ولایت پټهان (پښتنو) پورې اړه لري، زه هېڅ شك نه لرم، چې دوی به په
پاکستان کې د خپلې ټولنیزې، عرفاني موسساتي او سیاسي ترقۍ په لاره کې له بشپړې ازادۍ څخه
برخمن وي. دوی به هماغه خودمختاره حکومت ولري، چې د پاکستان نور ولایتونه یې لري. د پاکستان
جوړېدل د ټولو ولایتونو د ګډ زیار پایله ده، نوځکه د پاکستان د حکومت سیاست د هر ولایت په اړه
کټ مټ ډول او یو برابر دی. د راتلونکي په هکله تاسې جلالتماب خبر اوسئ، چې په پاکستان کې بو
دستوري مجلس جوړېږي، چې په هغه کې د پاکستان د ټولو برخو استازي شته او د مرکزي حکومت او
ولایتونو حکومتونو اساسي قانون به همدغه لوړ مجلس تدوین کړي، لکه هغسې به چې هر ولایت آزاد
وي، چې د خپل راتلونکي دستور په هکله هره هغه موضوع، چې لازمه وبولي په دغه دستوري غونډه (د
قانون جوړونې جرګه) کې پیشنهاد کولای شي، په دې ترڅ کې ډېر خوښ یم چې د قایداعظم د بیانیې
دوه لیکونه ستاسې د لا زیاتو معلوماتو لپاره تاسې ته وسپارم. موقع غنیمت بولم یو ځل بیا خپل
درناوی وړاندې کوم.
د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر ظفرالله د جناح وینا او بیانیه لا مخکې د ۱۹۴۷م. کال د جولای په ۳۱

مه نېټه د «ډان» په ورځپاڼه کې او د همدې کال په اګست کې په کراچۍ کې خپره شوې وه، چې د ظفرالله خان په دغه لیک کې د هغې معلومات راغلي وو.
په هر حال، نجیب الله خان وروسته تر دوه میاشتو او څو ورځو څخه کابل ته راستون شو او د خپل «سیاسي فعالیت» پایله یې په لاندې توګه د افغانستان، پښتونستان او بلوچستان د خلکو غوږ ته ورسوله:
په لنډ ډول عرض کولای شم، چې زما خبرو د پاکستان له حکومت سره لاندې پایلې درلودې:
۱- د پاکستان حکومت د سرحد د آزادو قبایلو خپلواکي پېژني «حال دا چې آزاد سرحد پخوا آزاد او خپلواک و» او د هغه حکومت «کوم حکومت؟ آزاد سرحد، خو کوم حکومت نه درلود ؟» روابط له پاکستان سره د ژمنو پر بنسټ دي، دغه ژمنې د پاکستان د آزادو قبایلو په مادي او معنوي ترقۍ کې مرسته کوي.
۲- د پاکستان حکومت د شمال لویدیځ سرحد صوبې خودمختاري پېژني او د سرحد حکومت دیموکراتیک او خلک کولای شي، چې خپلو سیاسي، عرفاني، او ټولنیزو موسساتو ته پرمختیا ورکړي «یعنې د پاکستان د فدرالي کړۍ دننه، چې پخوا هم همداسې و»
**تبصره:** دغه پورتني دوه مطالب د سرظفرالله خان د جنوري د لومړۍ نېټې په لیک کې راغلي او لیکل شوي وو، چې هغه ماته سپارل شوي دي.
۳- د قایداعظم د پاکستان د صدر، د بهرنیو چارو وزیر او فارن سکرتري او د هغه هېواد د یو شمېر وزیرانو د شفاهي خبرو له مخې د پاکستان حکومت د سرحد صوبې لپاره د هر هغه نوم د اېښودلو په هکله د هغې سیمې خلکو ته واک ورکوي، چې د شمالي لویدیځ د اوسېدونکو قومیت تمثیل کړي او دغه نوم د پاکستان تشکیلاتي اسامبله کې غوره شي او دوی ورسره مخالفت نه کوي، مرسته ورسره کوي. خو د پاکستان مرکزي حکومت له اسامبلې څخه مخکې ددې خبرې ژمنه د قانوني او اصولي موانعو له امله په لیکلې توګه نشي کولای.
۴- د پاکستان حکومت له ډیورنډ څخه د پورې غاړه ټولو افغانانو له یو ځای کېدو «یعنې د پخواني آزاد سرحد په ګډون» سره موافق دی. ددې خبرې ترسره کول تشکیلاتي اسامبلې او خپله خلکو پورې مربوط بولي.
۵- په «آزادو» قبایلو کوم زور نشته، چې که دوی خپله وغواړي، چې راتلونکي کې د افغانانو خودمختاره تشکیلات د پاکستان په فدرالي چوکاټ کې جوړ کړي. د پاکستان حکومت دوی ته هر کلی وایي. «ددغو دوو وروستیو ټکو په هکله هم یواځې په شفاهي توګه ډاډ ورکړل شوی دی» «د بیانات کتاب: ۳۷- ۱۳۹ مخونه» «په دغه ځای کې په لیندۍ کې راغلې خبرې د لیکوال دي».
دا و «د اعلیحضرت د ځانګړي ممثل فوق العاده استازی» او د "افغانستان د صدراعظم غازي سپه سالار سردار شاه محمود خان د حکومت" منفي سیاسي شهکار! د شاه محمود خان حکومت دغه شرموونکې ماتې هغه وخت له پاکستان څخه وخوړه، چې د افغانستان، پښتونستان او بلوچستان،

Scanned by CamScanner

خلك د خپلو ملي حقوقو او خاورې د بېرته ترلاسه کولو لپاره په جوش او غورځنګ کې وو. د بېلګې په توګه د ۱۹۴۹م. کال د مارچ د میاشتې د جلال آباد لویې جرګې پرېکړې د افغانستان د خلکو اراده د آزادو افغاني سرحداتو سره یو ځای له ډیورنډ ځخه د پورې غاړې او سند تر منځ د افغانانو د خپلواکۍ لپاره نړۍ ته وښودله او د افغانستان د اوومې دورې ملي شورا د ۱۹۴۹م. کال د جون په میاشت کې د مردودې ډیورنډ کرښې ابطال او الغا اعلام او د کابل په جریدو کې خپره شوه. په همدې کال د پښتونستان د خلکو له خپلواکۍ غوښتونکو مبارزو سره د مرستې او پیوستون په خاطر په کابل کې د اعانې (بسپنې) یو دفتر پرانیستل شو او په همدې موخه بېلابېلې غونډې د هېواد په بېلابېلو ښارونو لکه ګردیز، کندهار او نورو کې وشوې او د ډیورنډ له کرښې پورې غاړه تر سند پورې د ټولو افغانانو د خپلواکۍ په لاره کې د پاکستان په وړاندې د مبارزې لپاره چمتوالی ونیول شو، خو آیا دا مهال په پښتونستان، د سرحد په آزاده او محکومه صوبه او بلوچستان کې څه تیرېدل؟ وروسته تر هغه چې د انګلیس دولت د ۱۹۴۷م. کال د جون په دریمه دهند د پرېښودلو اعلان وکړ، د همدې میاشتې په ۲۱مه په محکوم پښتونستان کې د بنو یوه لویه جرګه جوړه شوه، چې په هغې کې د ټول محکوم او آزاد پښتونستان او بلوچستان استازیو، لویو ګوندونو لکه خدایي خدمتګارو، د سرحد جمعیت العلماء او زلمي پښتون پکې ګډون وکړ.

دوی پرېکړه وکړه، چې: "پښتانه نه هند غواړي نه پاکستان، بلکې غواړي چې په دغه خاوره کې د پښتنو یو آزاد حکومت د اسلامي جمهوریت پر بنسټ جوړ کړي." د همدغې ملي جرګې د پرېکړې د پټولو په خاطر پاکستان په بېړه یو جعلي ریفرنډم پیل کړ او په هغې کې یې قرآن رامخې ته کړ او په ګدایي سره یې د رایو په ټولولو پیل وکړ. دا په داسې حال کې، چې په کلکته، بمبئ، بهار، لاهور او امرتسر او جالندر کې د مسلمانانو او هندوانو اوسېدونکو تر منځ خونړۍ جګړې روانې وې. د ۱۹۴۷م. کال په همدغه سپتمبر او اګست کې له سلو زرو څخه زیات هندوان او مسلمانان ووژل شول او نوي جوړ شوي پاکستان کاواکه حالت درلود. دا مهال نامتو مشر عبدالغفارخان په پښتونستان کې د مهاتماګاندي په قدم د پښتون زلمي د رضا کارانو ټولنې ته امر وکړ، چې له عدم تشدد څخه کار واخلي. حال دا، چې دغې ټولنې مخکې پرېکړه کړې وه، چې توري راواخلي (دوی ۲۵ زره وسله وال لرل) کټ مټ همدا پېښه په افغانستان کې وشوه، کله چې په هماغه پیل کې (په ۱۹۴۷م. کې) سرحدي قبایلي جرګې له پاکستان څخه خپله خپلواکي اعلام کړه او خپل استازي یې کابل ته راولېږل او د پاکستان په وړاندې یې خپل وسله وال پاڅون اعلان کړ او له کابل څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه، د نجیب الله خان په وینا (د بیانات کتاب ۳۱ مخ) د اعلیحضرت حکومت له پاکستان سره خپلو خبرواترو ته دوام ورکاوه، دغه حکومت هڅه وکړه، چې هغوی د پاکستان په وړاندې له وسله وال پاڅون څخه راوګرځوي او دوی د روغې جوړې د خبرو پایلو ته په تمه کړي او سوله ییزو ګامونو او چتولو ته یې وهڅوي. دده په وینا، ځکه چې مونږ هېڅکله دا هیله نه لرله او نه یې لرو، چې له خپلو پاکستاني ورونو سره زمونږ اړیکې ترینګلې شي.[۱۰]

غو پښتو او پاکستاني چلند دا فرصت برابر کړ، چې پاکستان پیاوړی شي او په بل راتلونکي ۱۹۴۸م.) کې عبدالغفارخان بندي کړي. یو بل کال وروسته (۱۹۴۹م. کې) یې د پښتونستان په کلیو او بانډو باندې او په افغانستان کې یې د پکتیا مغلګۍ باندې بمونه وغورځول. حال دا چې یو کال مخکې (۱۹۴۸ کې) یې پاکستان د چارسدې لویه جرګه، چې په هغې کې زرګونو نارینه او ښځو ګډون کړی و، تر اور لاندې ونیوه، چې څو زره افغانان یې د ښځو او ماشومانو په ګډون تېپیان او څو زره نور بندیان کړل. خو آیا د افغانستان حکومت څه وکړل؟ دغه حکومت په ۱۹۴۹م. کې په کابل کې د آزاد پښتونستان په جرګه کې، چې په هغې کې د پښتونستان د خپلواکۍ اخیستو لپاره د مرستې غوښتنه شوې وه، یواځې همدومره وویل، چې دوړي نهمه به هر کال (د پښتونستان د ورځې) په نوم لمانځل کېږي. البته د شاه محمود خان حکومت نه غوښتل، چې د افغانستان او پښتونستان د میلیونونو قواوو څخه د دوی د له لاسه وتلیو ځمکو او تلف شویو حقوقو په بېرته ترلاسه کولو کې عملي کار واخیستل شي.

خو پاکستان همدا، چې په سیاسي خبرو کې د افغانستان حکومت ناکام او څنډې ته یې وشاړه، په خپل ځای ونه درېد، بلکې له ۱۹۴۷م. کال څخه وروسته د دواړو هېوادونو تر منځ پیل شوي سرحدي ټکرونه یې نور هم کلك او ګړندي کړل او ویې غوښتل، چې د شاه محمودخان حکومت په یوه دفاعي دریځ کې راولي. د بېلګې په توګه دغه د اخ و ډب ټکرونه یې په ۱۹۴۹م. کال کې دې برید پورې ورسول، چې د پښتونستان د خپلواکۍ غوښتونکو په ضد یې نظامي بریدونه پیل کړل او د هغوی کلي یې په بمونو وویشتل، دې پسې وروسته پاکستاني هوایي ځواك افغانستان ته راننوت او په پکتیا کې یې افغاني خاوره باندې بمونه وغورځول. دا یواځې نه، بلکې په ۱۹۵۰م. کال کې پاکستان په خپله خاوره کې ترانزیټي لاره یعنې د افغانستان سوداګریز شاهرګ تر کلکو قیدونو لاندې راوست. په همدې کال کې انګرېزانو پاکستان د ډیورنډ له کرښې پورې غاړه د پښتنو په سیمه باندې خپل ځای ناستی او قایم مقام معرفي کړ. د امریکې د متحده ایالاتو د جمهوررییس استازي فلیپ جسوب هم دا وخت کابل ته راغی. په دغه وخت کې د انګلیس او امریکې دواړو دولتونو غوښتل، چې نه یواځې افغانستان باید د پاکستان په ګټه د پښتونستان په سر له خپلې ادعا او غوښتنې څخه تېر شي، بلکې غوښتل یې چې افغانستان هم لکه د پاکستان په شان په یوه نظامي تړون کې ورګډ کړي، خو دا کار په افغانستان کې هېڅ حکومت نشو منلای، نو ځکه د دوی دا غوښتنه ونه منل شوه.

د شاه محمودخان حکومت د پښتونستان په قضیه کې تر ماتې خوړلو وروسته د خپل ظاهري حیثیت د ساتلو په خاطر په یوه ډېر لګښت لرونکي نمایشي صحنه سازۍ باندې لاس پورې کړ. د بېلګې په توګه هر کال به یې یوه ورځ د پښتونستان د ورځې په نوم لمانځله، په کابل کې یې یوه څلور لارې د پښتونستان په نوم ونوموله او په همدې نوم یې یو بیرغ په هوا کې ځوړند کړ، په داسې حال کې، چې په کابل کې یو ریاست او په ولایاتو کې یې د قبایلو په نوم ځانګې هسې په نوم د میلمستون په بڼه فعال کړې وې، چې هر ډول مسافر به ورته راتلل، چې د هغو زیاته او بې ګټې بودیجه د خلکو له مالیاتو څخه

Scanned by CamScanner

پوره کېدل. ددغه بې مسئولیته ریاست موخه زیاتره، چې یو ډول سیاسي تجارت او د هغو پښتونستانیانو عادت کول په یوه وړیا استراحت باندې و، پرته له دې چې کوم عملي کار وکړي، دوی ته به ځای ورکول او معاشونه به ورکول کېدل. ځینو به دواړو طرفونو ته ګټه رسوله، خو د پښتونستان واقعي او رښتیني لارښوونکي او مشران په کابل کې د حکومت تر څارنې لاندې وو، همداسې حالت په پاکستان کې هم په دوی باندې روان و.

له دې څخه وروسته د پښتونستان د خپلواکۍ مبارزه یواځې د یو شمېر مقالو او تکراري ویناوو او لکچرونو او بې ګټو مشاعرو په خپرولو پورې ایساره او په جرایدو، راډیو او ورخپاڼو او د چای خوړلو په غونډو پوره رالنډه شوه، خو د شاه محمودخان حکومت د پښتونستان د یوه موقت حکومت له جوړولو او د هغه په رسمیت پېژندلو څخه ویرېد. او په آزادو سرحدونو کې د یوې راډیو له جوړولو یې هم ډډه کوله. د حکومت دغه چلند په افغانستان او پښتونستان کې د خلکو د ناهیلی لامل شو او برعکس یې د پاکستان حکومت ته ډېر ښه فرصت په لاس ورکړ، تر څو په ډېره بېړه په پښتونستان باندې خپله لاسبري ټینګه او په آزاد پښتنستان باندې خپل واک پراخه کړي.

Scanned by CamScanner

# څلورم
# د سیاسي مبازو ګړندي کېدل
## (د سیاسي ګوندونو جوړېدل او پارلماني مبارزې)

په افغانستان کې د نادرشاه د سلطنت له ټینګېدو څخه وروسته دغه مطلقه فیوډالي رژیم او ارتجاع او ستم په ضد سیاسي مبارزې پیل شوې، خلکو د هېواد په شمال او په ختیځ کې وسله وال پاڅونونه پیل کړل. روڼ اندو نادرشاه، د هغه ورور او درې تنه د انګرېز د سفارت کار کوونکي ووژل. البته واکمنې کورنۍ دغه پاڅونونه او مبارزې په ډېر ځوروونکي ظلم سره غلي کړل او د افغانستان د صدراعظم محمدهاشم خان حکومت یې دیارلس کاله نور په یوه عمومي محبس او وژنځای بدل کړ، په ویروونکې وحشت کې یې خلك غلي او له مرۍ څخه ونیول، خو په دغو دیارلسو کلونو کې د روڼ اندو یو نوی قشر د راپورته کېدو په حال کې و، دوی د واکمنې کورنۍ د فاسد رژیم مادي او معنوي تخریبات د سر په سترګو ولیدل او څکه دوی ورته په غوسه وو. له بلې خوا د دیارلسو کلونو په ترڅ کې سوداګریزه انحصاري پانګه او د هغې تمرکز داسې یو برید ته ورسېدل، چې د کرنې او صنعت په برخو کې د پانګې کار فرمایي پوخوالی ولیدل شو، په صنعتي او کرنیزو کارګرانو کې هم زیاتوالی راغی او هوسا کروندګر د کلیو او بانډو د منځنۍ طبقې د جوړولو په لوري پر مخ ولاړل، خو کارګرې طبقې ټولنې او اتحادیې نه درلودې او د کار قانون یې نه درلود (آن دا چې د ۱۹۴۲م. کال د کار هغه نیمګړی قانون هم نه تطبیق کېده). کوچني بزګران په کلیو کې د اقتصادي ماتې په لوري روان وو. د پانګوالي دغه انډولیزه وده د افغانستان په فیوډالي ټولنه کې له ټیټو او منځنیو طبقو سره د لویو سوداګرو او د پانګې د ګټو تر منځ ټکر راوست، په دې توګه ټولنیز تضادونه مخ په زیاتېدو وو.

منځنۍ طبقې او مبارزو روڼ اندو لویې پانګې، انحصاري لویو کمپنیو، انحصاري سوداګرو او لویو څمکوالو ته (چې دغو دواړو وروستیو ډلو په ګډه د هېواد د سیاست اداره په لاس کې لرله) په قهر او کرکې سره کتل او غوښتل یې، چې د لویو شرکتونو او غټې پانګې او د ځمکوالو د آس خوله کې جلو واچوي تر څو د اکثریت ګټې پایماله نه کړي. د اعتراض هغه لومړنی غږ، چې په لیکلې بڼه د لویې پانګې د انحصار او امتیاز په وړاندې اوچت شو، هغه د (اقتصاد ما) تر عنوان لاندې یوه مقاله وه، چې د اصلاح ورځپاڼې د ۱۳۲۵ل. کال د تلې په ۱۲مه نېټه په ۵۱مه ګڼه کې خپره شوه (د ۱۹۴۲ د اکتوبر نهمه). او زه، چې د دغې مقالې لیکوال وم، د وزیرانو په غونډه کې تر پوښتنې او ګواښ لاندې راغلم، د اصلاح مدیر محمدقدیر خان تره کي په همدې ګناه له کار څخه لرې شو او تر ډېره پورې د حکومت د قهر

ور ګرځېدلی و.
البته په سیاسي ډګر کې د خلکو د دغې غوښتنې بیانوونکي زیاتره د افغانستان روڼ اندي مبارزین وو، په تېره بیا چې کرنیزو کارګرانو، کروندګرو او صنعتي کارګرانو خپلې اتحادیې او ګوندونه او ټولنې نه درلودې او مبارزې یې زیاتره د اقتصا په ډګر پورې ایسارې وې. په دغه ډول ټولنیزو شرایطو کې د سیاسي او اقتصادي مبارزو مخکښ رول او دنده خامخا د روڼ اندو په غاړه وه او د دوی مبارزات د ملي پانګوالو او ملي سوداګرو له غوښتنو سره برابرې وې. په دې توګه په هېواد کې یو ځل بیا سیاسي غورځنګونه پیل او سیاسي کړۍ جوړې شوې.

حکومت له نړېوالې دوهمې جګړې څخه وروسته نړېوال او کورني نوي وضعیت باندې پوهېدلی و او په دې هم پوهېده، چې په نویو ټولنیزو شرایطو کې د نویو سیاسي غورځنګونو رامنځته کېدل او د ګوندونو جوړېدل حتمي دي، نو ځکه یې پرېکړه وکړه، چې دغه نوښت په دغه لاره کې په خپل لاس کې ولري او د داسې خپلواکو ګوندونو د جوړېدو مخه ونیسي، چې په واکمنه کورنۍ پورې نه وي تړلي. خو د دې پر ځای یې غوښتل، چې ټول سیاسي فعالیتونه هم ښیي او هم کېڼ او آن دا، چې انقلابي سیاسي فعالیتونه د امکان تر حده پورې د خپلو پټو استازیو په لاس او واک کې وساتي. باید دا ومنو، چې د افغانستان اوسنۍ واکمنې کورنۍ د هغو ډېر لږ معلوماتو او له ساده ګۍ څخه ډکو ظواهرو سره سره د استعماري ادارې په چارو ښه پوهېږي او پوره تجربه پکې لري او په دې خبر دي، چې په څه ډول سره کولای شي، چې د ټولنیزې پرمختیا مخه ډب کړي او یا یې کړه کړي او په څه ډول د خپل ځان د پاتې کېدو لپاره د (بېل یې کړه بېل یې کړه) استعماري فرمول د افغانستان په خلکو باندې تطبیق کړي، خو حکومت په دې برخه کې د خلکو له کلک مقاومت او مبارزې سره مخامخ شو او خپله نقشه کې تر ډېره پورې ناکام شو.

مخکې تر دې، چې حکومت په رسمي توګه دیموکراسي اعلان کړي او یو شمېر دیموکراتیک قوانین جوړ کړي، یوه آزمایښتي دوره یې پیل او د شورا او ښاروالیو د ټاکنو آزادي یې اعلان کړه.

شاه محمود خان د روڼ اندي قشر د سیاسي آزادۍ په برخه کې د انتظار حالت غوره کړ او دې ته یې کتل، چې آیا د دیموکراسۍ تر شفاهي اعلان څخه به وروسته، روڼ اندي د کورني رژیم په وړاندې څه کوي، آیا دوی به دغه سیاسي آزادي د واکمنې کورنۍ یوه لورېینه او احسان وګڼي او وروسته تر اوږدې مودې کړاو او شکنجې ګاللو او زیاتو ټولنیزو ستونزو تېرولو څخه وروسته به په خپله سیاسي رهبرۍ کې دغه حکومت ومني او آیا د ټولنې د ګټو په پرتله به د واکمنې کورنۍ ګټو ته لومړیتوب ورکړي که نه؟ البته په لومړني شکل کې به حکومت له سیاسي غورځنګونو څخه په خپله ګټه او د ځان د پاتې کېدو لپاره کار واخلي او د هغو ملاتړ به وکړي، خو په دوهم شکل کې به دغه غورځنګونه وټکوي او یا به یې منحرف کړي.

حکومت د دغه ډول یوه آزمایښتي پلان له لرلو سره سره د خپل ځان په وړاندې د یوې متحدې جبهې او یا یوې سیاسي واحدې جبهې څخه په وېره کې و، نو ځکه یې د روڼ اندو په ټوټه ټوټه ساتلو کې هڅه

Scanned by CamScanner

کوله او ګوندونو د جوړېدو پر مهال یې په بېلا بېلو بېو سره خپل خلک پکې ورځای کړل، تر څو د ارتیا پر مهال وکولای شي، چې د هغو په لاسونو باندې ګوندونه رنګ یا هم منحرف کړي. دا یواځې نه، بلکې ددې لپاره، چې دغه ګوندونه د سیاست په ډګر کې بې له قوي سیال څخه نه وي حکومت په خپله د ملي دیموکرات ګوند په نوم یو ګوند یا حزب جوړ کړ، خو دحکومت له هر ډول ملاتړ سره سره کله، چې انتخابي شورا جوړه شوه، ګوندونه تاسیس او ګوندي جریدې پیل شوې، پایله یې هغسې نه وه، لکه چې دوی غوښتله. دا څکه چې دغو سیاسي جریاناتو سره له دې، چې بېلابېل تشکیلاتي جوړښتونه یې لرل او موسسات یې هم زیات وو، دوی عملاً د حکومت په وړاندې د یوې متحدې جبهې په بڼه سنګرونه ونیول او د یوه دیموکراتیک رژیم د جوړولو او د آزادي او عمومي عدالت لپاره یې هلې ځلې پیل او د حاکمه طبقې د اقتصادي او سیاسي انحصار او امتیاز د له منځه وړلو لپاره یې مبارزې وکړې، نو څکه په بل ګام کې حکومت دغه ټول سیاسي غورځنګونه وځپل او هماغه پخوانی اختناق یې بیا پیل کړ، خو بیا هم تر هغه وخته پورې یو شمېر ګوندونو او ګوندي جرایدو یو څه کارونه کړي وو، چې اغېزې یې په عامه اذهانو کې له ورایه ښکارېدې. نو څکه حکومت ددغو سیاسي غورځنګونو داغېزود له منځه وړلو په خاطر د اختناق، ویرې او ظلم یوه لس کلنه دوره بیا پیل کړه، د ښاروالیو او شورا د انتخاباتو آزادي د حکومت د څرګندې لاسوهنې له امله له منځه ولاړه، حزبي جراید او سیاسي ګوندونه له منځه یووړل شول او د هېواد د سیاست په ډګر کې د وطنپاله مبارزینو لپاره د سر راپورته کولو زمینه له منځه بوتلل شوه.

## د ویښ زلمیانو ګوند

له دې امله، چې د وییښ زلمیانو د ګوند زیات غړي ژوندي او یو شمېر یې اوسني لیکوال دي. ډاډه یم، چې ددغه ګوند د فعالیتونو، مرام او تاریخي تګلوري په هکله به لیکنې وکړي، نو څکه زه دلته یواځې یو څه عمومي ټکي وایم.

په همدغه ۱۳۲۶ل. (۱۹۴۷م) کال کې یو علنی (ښکاره) ګوند د ویښ زلمیانو په نوم جوړ شو. په کابل، ننګرهار او کندهار کې ددغه ګوند مهم بنسټ اېښودونکي او لارښوونکي دا وو: عبدالروف خان بېنوا، ګل پاچا خان الفت، فیض محمد خان انګار، نورمحمدخان تره کی، غلام حسین خان ساپی (دغه دوره وروستي کسان د عبدالمجید زابلي د ډلې وو) محمدرسول خان پښتون، عبدالشکورخان رشاد. عبدالهادي خان توخي، محمدانورخان اڅکزی، قاضي بهرام خان، غلام جیلاني خان، قاضي عبدالصمدخان، فتح محمدخان ختګر، نورمحمدخان قاضي خېل، محمدابراهیم خان خواخوږی، محمدناصر لعلپوري، صوفي ولي محمدخان، آقا محمد خان کرزی، محمدموسی شفیق، غلام محمدخان پوپل، محمدطاهر خان ساپی، قیام الدین خان خادم، ارسلا خان سلیمي، نېک محمدخان پکتیاني، صدیق الله خان رښتین، عبدالعزیزخان، عبدالخالق خان واسعي، محمدعلي خان، نوراحمدخان شاکر، محمدرسول خان مسلم، محمدحسین خان ریدي، عبدالرزاق خان فراهي،

محمد نورخان اعلم. مولوي عبیدالله خان ساپی. ګل شاه خان ساپی. ظهورالله خان همدرد. محمد شریف خان قاضي. عبدالمنان خان درمند، ملیا، عبدالصمد خان ویسا، محمد علي بخرکی او څو تنه نور...

د ګوند منشي په پیل کې عبدالروف خان بېنوا او په پای کې عبدالرزاق خان فراهي و. د ګوند لګښتونه د غړو له بسپنې څخه پوره کېدل. د دغه ګوند نشراتي ارګان په پیل کې انګار و، چې فیض محمد خان انګار خپرولـه (دغـه اخبار د ۱۹۵۱ پـه مـارچ کې پـه خپرولـو پیـل وکـړ، خـو د همـدې کـال پـه اپریل کې توقیف شو) وروسته بیا ولس جریدې د هغې ځای ونیو. چې له ۱۹۵۱ څخه تر ۱۹۵۳م پورې د ګل پاچا الفت په امتیاز خپرېده. له دې پرته له دې څـنـه مخکې عبدالروف بېنوا پـه ۱۳۲۶ل (۱۹۴۷م) کې یو کتاب لیکلی و، چې نوم یې ویښ زلمیان و، چې پـه هغـه کې د دغـه د ګـونـد د غـړو او یـو شمیر نورو لیکوالو مقالې لیکلې وې او پښتو ټولنې هغه چاپ کړ. پـه دغـه کتـاب کې هـم ملي روڼ اندو او هم یو شمیر د دولت اسـتازیو (لکه عبدالمجید خان زابلی د هغه مهال د اقتصـاد وزیـر) یـو شـمیر مقالې لیکلې وې.

د ویښ زلمیانو د ګوند مرامنامه په دې ډول وه:

لومړی- د افکارو روښانه کول او د معارف دودول.

دوهم- له ظلم او خیانت سره مجادله.

دریم- د ناوړه عاداتو او خرافاتو اصلاح کول.

څلورم- له حق او حقانیت څخه ملاتړ.

پېنځم- د ملي یووالي رامنځته کول.

له دغې مرامنامې سره یو ځای د ګوند له خوا یوه بله تشـریح کـوونکې خپرونـه هـم وه، چې نوم یې (ویښ زلمیان څوک دي؟) و. په هغې کې راغلي وو:

۱- هغه څوک، چې په خیر او سمون باندې بشپړ ایمان ولري.

۲- زغم لرونکي او د سړې سینې خاوند وي.

۳- د شخصي غرض له مخې هېچا ته په کینه او بد نظر نه ګوري.

۴- درواغ نه وايي.

۵- غوړه مالي او چاپلوسي نه کوي او له بل چا څخه یې هم تمه نه کوي.

۶- شخړې او لانجې نه خوښوي.

۷- تر نړولو څخه رغولو ته ډېر لېوال وي.

۸- له دین، ملت، هېواد او حکومت سره مینه لري.

۹- ټولنیزې ګټې د خپلو شخصي تر هغو لوړې بولي.

۱۰- د حق په لاره کې وېره نه لري.

۱۱- له حق او رښتینولی سره مل وي.

۱۲- که مامور وي بډې نه اخلي او ظلم نه کوي.

Scanned by CamScanner

۱۲- د ملي يووالي په لاره کې زيار ګالي

د ويښ زلميان ګوند په دغه ډول يو کړنلارې سره سياسي فعاليت پيل کړ او د څو کلونو په ترڅ کې يې غړي ډېر شول. د نورو ګوندونو او کړيو په ورانديې د دغه ګوند دغړو چلند ډېر دوستانه و. نو ځکه د دوی په وړاندې له هيڅ لوري کوم غبرګون ښکاره نه شو. نو ځکه يې ورځ په ورځ نوم او اعتبار اوچتيد.
د ويښ زلميانو په ګوند کې ډېر لږ شمېر داسې کسان وو، چې غوښتل يې ګوند يواځې په يوې سيمې او يوې ژبې پورې تړلي پاتې شي. د بېلګې په توګه صديق الله خان رښتين د ويښ زلميانو پر ځای د «ويښ پښتون» نوم غوره کړی و او همدا يې شعار ګرځولی و، آن دا چې نوموړی يوه مقاله د ويښ زلميانو په کتاب کې د ګوند تر نوم لاندې وليکله، چې عنوان يې ويښ پښتون و. همدا رنګه د ۱۳۳۰ل. کال په وري مياشت (۱۹۵۱م.) کې د کندهار ويښ زلميانو له ويښ زلميانو ګوند څخه خپل جلاوالی اعلان کړ او د خپل ګوند نوم يې (اخوت) کېښود او نوې برنامه يې جوړه کړه. د اخوت ګوند د همدغه کال د تلې په مياشت کې د مالي، تحريراتو عمومي څارنې، تبليغاتو او نشراتو د کميټو په جوړولو لاس پورې کړ، خو په کابل کې ويښ زلميانو ګوند د هغوی دغه جلا کېدل ونه منل او بېرته سره پخلا شول.
په هر حال د ويښ زلميانو ګوند د افغانستان په اوومه ملي شورا کې يو دوه کسيز ګوندي فراکسيون درلود، دوی دواړه (ګل پاچا الفت د ننګرهار وکيل او نورمحمد خان د کندهار د پنجوايي وکيل) د دولت په مخالفه جبهه (يا ملي جبهه) کې ودرېدل او د نورو ملي ګوندونو او ناګوندي نورو خپلواکو کسانو سره يو ځای يې خپلو پارلماني مبارزو ته دوام ورکړ. همدا رنګه ويښ زلميانو په کندهار کې د کندهار د ملي شورا په انتخاباتي مبارزو کې ګډون وکړ او خپل يو تن ګوندي غړی (عبدالشکور رشاد) يې د ملي شورا اتمې دورې ته کانديد کړ، خو حکومت له زور څخه په کار اخيستلو سره د دغه کانديد پر ځای عبدالغفورخان خروټی د وکيل په توګه په خلکو وتاپه. له همدې امله په ۱۳۳۱ل. (د ۱۹۵۲م. د اپريل لومړيو) کې د کندهار د ويښ زلميانو يو شمېر لارښوونکي د کابل او کندهار په محبسونو کې بنديان شول لکه: محمدانور خان اڅکزي، عبدالهادي خان توخي، غلام جيلاني خان الکوزی، قاضي بهرام خان، قاضي عبدالصمدخان محمد يوسف خان مجددي (د کابل په محبس کې) فيض محمدخان انګار، محمدعلم خان اڅکزی او حاجي محمد حسين خان هوتکي (د کندهار په محبس کې) محمدرسول خان پښتون هم بغلان ته تبعيد شو او محمد عزيزخان توخي په جلا توګه بنديان کړل شو. له دوی څخه يو تن (خدای دوست خان) د خپل بند په اتم کال د کابل په زندان کې ومړ او عبدالهادي خان توخي، قاضي بهرام خان او عزيزخان توخي تقريباً دولس کاله په بند کې پاتې شول. محمدانورخان اڅکزی د خپل بند په پنځم کال او قاضي عبدالصمدخان. محمديوسف خان مجددي او غلام جيلاني خان الکوزايي د خپل بند په څلورم کال له بند څخه راخوشې شول. همدا رنګه محمدابراهيم خان خواخوږی لا د مخه په ۱۳۲۹ل. کې څلور مياشتې بندي شوی و. هغه پسې ورووسته د ويښ زلميان ګوند د سردار محمدداودخان د صدارت په دوره (۱۹۵۳م.) کې عملاً د سياست له ډګر څخه وکښل شو، خو يواځې يو شمېر کوچنۍ کړی يې د پخوانيو ګوندي ملګرو په توګه پاتې شوې.

Scanned by CamScanner

## د «ملي دیموکرات» دولتي ګوند

کله، چې حکومت د افغانستان د روڼ اندو نوي سیاسي جریانونه په پارلمان او یو شمېر سیاسي کړیو او د محصلانو په اتحادیه او په نورو بنو ولیدل، نو د دوی د نورې راتلونکې ودې او پرمختیا مخنیوی او د دوی خوارولو په خاطر یې وغوښتل، چې د عمل نوښت په خپل لاس کې واخلي، نو ځکه یې په ۱۹۵۰م کال کې د یوه دولتي ګوند په جوړولو لاس پورې کړ.

دغه ګوند، چې د عوامو د غولولو لپاره د «ملي دیموکرات» ګوند په نوم جوړ شو، په سیده توګه د پاچا د لیکلي حکم پر بنسټ د هغه د تره د زوی او اوښي او د حرب وزیر سردار محمد داود خان او د اقتصاد وزیر، لوی پانګوال او لوی سوداګر عبدالمجید خان زابلي، د پوهنې د وزیر او د اریستوکراسي د ممثل سردار فیض محمد ذکریا، د محافظه کارۍ د سمبول علي محمد خان بدخشي او د صدراعظم د مرستیال په لاسونو جوړ شو، د دغه ګوند غړي ښه شتمن او مخور وو، چې په هغو کې یو شمېر محمدزي سرداران او د اردو جنرالان، سوداګر، لوی ځمکوال، یو شمېر وزیر، لوړرتبه مامورین او بیا په پای کې یو څو تنه ساز شکاره روڼ اندي وو، چې د دغه ګوند یو ولس توکیزه مرامنامه په لاندې توګه وه:

## د ملي دیموکرات ګوند مرامنامه

۱. باید د ګوند غړي د اسلام په مبین دین مشرف او د افغانستان د تابعیت لرونکي وي.

۲. باید د افغانستان د مشروط سلطنت مقام ته ژمن او په مطلق ډول ورته وفادار وي.

۳. باید د ګوند غړي خپل پایبنت د افغانستان د ملت د خپلواکۍ په پایښت کې د هغې په ټوله معنا او پرته له کوم قید او برید څخه د هېواد په ځمکنۍ بشپړتیا پورې تړلی وبولي او د هېواد او ملت د نیکمرغۍ ټول پړاوونه باید هغوی پورې تړلي وبولي.

۴. باید د اسلام د سپېڅلي دین له لارښوونو سره سم د دیموکراسۍ «د ملت حاکمیت» اصولو ته او هغو پایلو ته، چې د نړۍ مترقي ملتونو له دغو اصولو څخه ترلاسه کړي دي، کلکه عقیده ولري.

۵. باید د ګوند غړي د قانون په وړاندې بشپړو مساواتو ته درناوی ولري او د کورنۍ، شتمنۍ او شخصي پېژندګلوۍ څخه د هېواد ټولو قوانینو ته درناوی وکړي.

۶. باید د ګوند غړي د لوړ اخلاقي دریځ لرونکي وي.

۷. د ګوند غړي باید د ځان د ګټو په پرتله د ملي ګټو لوړو ګڼلو په مفهوم کلکه عقیده ولري او عملاً یې پیروي وکړي.

۸. د ګوند غړي باید عدالت د ټولنې د ثبات بنسټ او د ملت نیکمرغي وبولي او په هېواد کې د هغو ډاډمنتیا باید خپله ملي او ایماني دنده وبولي.

۹. د ګوند غړي باید ملي یووالی د افغانستان د ملت د مادي او معنوي پیاوړتیا بنسټ وګرځوي او د قومي بې اتفاقیو د له منځه وړلو لپاره هر ډول هلې-ځلې وکړي.

Scanned by CamScanner

۱۰. د ګوند غړي باید په دې عقیده وي، چې فساد او په دولتي موسساتو کې بې نظمي د ملت په زیان ده او د قانون پلي کېدل د هر دول انارشي مخه نیسي.

۱۱. باید دولتي چارې او عامه کارونه پرته د نسب، ځای، سیمې او شخصي پېژندنې څخه د هغو د صلاحیت لرونکو وګړو ته وسپارل شي او دملي او دولتي شتمنیو د تالا والا کېدو مخه ونیول شي. د ګوند هر غړي دنده لرله، چې دغې مرامنامې ته خپله وفاداري د قرآن په لوړه باندې د قاضي تر مخې وښيي او لاندېنی ژمنلیك لاسلیك کړي.

## ملي دیموکراتیک ګوند

## ژمنلیک

زه (.........) د (.........) زوی چې دغه ژمنلیك لاسلیك کوم په خدای تعالی او قرآن باندې لوړه کوم، چې په هر مهال او هر ځای کې به د ملي دیموکراتیك ګوند ددغې مرامنامې ټولو توکیو ته ژمن اوسم او تر ځو پورې، چې ددغه ګوند غړی یم هغه به پلي کوم او د ګوند د رازونو ساتل خپله وجداني دنده بولم والله، بالله تاالله.

دلاسلیك ځای(...)

د ګوند دفتر په کابل کې د کورنیو چارو د پخواني وزیر سردارغلام فاروق خان عثمان کور و، چې په نوي ښار کې و او ملي کلوپ ورته ویل کېده. د ګوند ډېر لوکس لګښتونه د عبدالمجید خان زابلي له خزانې تمویل کېدل. د ګوند منشي ډاکتر عبدالقیوم خان لغماني و، چې وروسته بیا وزیر او یو مهال کې بیا د صدراعظم مرستیال شو.

په هر حال دغه سلطنتي د زیات لګښت پرتم او تجمل لرونکی ګوند د خپلې هغې ځواکمنتیا په لرلو سره، چې د خلکو په تطمیع او ویرولو کې یې لرله د خپل ټول عمر په اوږدو کې هېڅ کوم خدمت ونه کړ، آن دا چې یوه خپرونه یې هم خپره نه شوه کړای، خلکو ورته هر کلی ونه وایه او رون اندو ورسره عملاً پرېکون وکړ. د ګوند یوه مقرره دا وه، چې د ګوند غړو به یواځې په ګوندي غونډو کې د هېواد په ټولنیزو چارو کې د نیمګړتیا په برخه کې د حکومت په چارو انتقاد کولای شو، خو له غونډې بهر یې دا کار نشو کولای، د اوومې دورې د شورا هغه شمېر وکیلانو، چې ګوند ته ورننه کړل شول، د همدې مقررې له مخې یې نور نو په شورا کې په اعتراض کولو خوله بنده شوه، دوی یواځې د دولت د ملاتړ کوونکو او د شورا د سیل کوونکو ښه غوره کړه.

له دې امله، چې ملي دیموکرات ګوند د ګوند په ټولو عملي ساحو کې ناکام پاتې شو، په ۱۹۵۳م. یعنې هغه مهال، چې د افغانستان د حکومت واك سردار محمدداودخان ته وسپارل شو، لکه د یوې

خامې خبنتې په شان، چې په اوبو کې شړېږي، همغسې دغه ګوند هم ورك شو، خو دولت د افغانستان د سیاست په ډګر کې د ملي دیموکرات ګوند له ناکامۍ څخه یو لوی درس او پند واخیست او له دې څخه څو کاله وروسته یې بیا د دیموکراسۍ دوهمې دورې ته پرېکړه وکړه، چې واکمنه کورنۍ به بل ځل ګوند نه جوړوي، بلکې د نورو کسانو په لاس به، چې په حقیقت کې د دولت چوپړ کوونکې وي او هسې په ځرګنده به د دولت کینړ لاس وشمېرل شي، یو ګوند به جوړ کړي. دا یوه خطرناکه پرېکړه وه.

## وطن ګوند

د ۱۳۲۹ل. (۱۹۵۰م) کال د مرغومي په ۱۲ مه نېټه د کابل په ښار کې د وطن ګوند بنسټ کېښودل شو. له دې امله، چې هغه مهال ګوندونه نه وو، نو د هغه وخت د تعامل له مخې د ګوند د جوړولو غوښتنلیك د ګوند له مرامنامې سره یو ځای په لیکلې بڼه پاچا ته وړاندې شو (صدراعظم هغه وخت له هېواد څخه بهر و) د ګوند مؤسسین لاندیني کسان وو: میرغلام محمدغبار، سرور خان جویا، میرمحمد صدیق خان فرهنګ، فتح محمدخان میرزاد، نورالحق خان هیرمند، برات علي خان تاج او عبدالحی خان عزیز.

### د ګوند مرامنامه داوه:

۱. د افغانستان د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه.
۲. د هېواد په ټولو ټولنیزو چارو کې د دیموکراسۍ اصولو عام کول.
۳. په افغانستان کې د ملي یووالي پیاوړتیا.
۴. د عمومي معارف په ترقۍ، د عامې روغتیا ساتنې، او د افغانستان د ټول اقتصاد په ترقۍ کې هڅې.
۵. د ټولنیز عدالت، وقایې، عامه حقونو او ګټو ډاډمنتیا.
۶. د ټولنیز فساد له منځه وړل.
۷. د نړۍ عمومي روغې-جوړې او سولې ته درناوی او په هغو کلك درېدل.

### د ګوند د تشکیلاتو او پروګرام متن داسې و:

د مرامنامې د عملي کولو په خاطر د وطن ګوند مرکزي شورا لاندې پروګرام تصویبوي او د ګوند ټول ارګانونه او غړي د هغو په عملي کولو ګوماري:

۱. د هر هغه اقدام، تبلیغ، حرکت او تلقین په وړاندې مبارزه، چې موخه یې د هېواد تجزیه یا هم د افغانستان خپلواکۍ ته ګواښ پېښول وي.

۲. د هېواد په ټولو ټولنیزو ډګرونو کې د دیموکراسۍ د اصولو عامول، په تېره بیا عمومي عدالت او د قانون په وړاندې د ټولو وګړو مساوات پرته له هر ډول ژبني، نژادي او مذهبي توپیرونو

ځخه د وینا او لیک د ټولنو او غونډو د جوړولو کار او د اوسېدلو ځای او مسافرت کولو په برخه کې د ډیموکراتیکو اصولو سره سم، خلکو ته بشپړه آزادي ورکول. د دولت د درې ګونو ځواکونو یو بل ځخه جلا کول او د هر یوه د واك او پولو، اندو او مسئولیتونو ټاکل.

۳. د هر هغه ډول تبلیغ، تلقین، اقدام او حرکت په وړاندې مبارزه، چې د افغانستان د ملي یووالي د ضعیف کولو او د خلکو تر منځ د قومي، نژادي، مذهبي او سمتي بېلوالي لامل وګرځي.

۴. د نجونو او هلکانو لپاره د معارف او پوهنې په برخه کې د یوه پلان جوړول او د عمومي اجباري تعلیماتو پر مخ بیول او د کلیو او بانډو او کوچیانو لپاره د زده کړو د لارو هوارول، د عمومي روغتیا لپاره د یوه پلان جوړول، د کرنې د پرمختیا، د ملي صنایعو د تاسیس، د عامه ګټو د ساتنې پر بنسټ د اقتصادي فعالیتونو د څارنې د اداره کولو، ټولو ته د کار د زمینې برابرولو او د خلکو د اقتصادي سویې د لوړولو پر بنسټ د عامه اقتصاد لپاره پلان جوړونه.

۵. له هر ډول تیري ځخه د ټولو وګړو د ځان، مال او حق ساتنه، د صالحه محاکمو احکامو ته د سزا ټاکلو د واك ورکول، د قوانینو په وضع کولو اود تعاوني او ملاتړ کوونکو موسساتو په جوړولو سره د معلولینو، معیوبینو، ښځو، ماشومانو، مامورینو، کارکوونکو، کارګرانو او بزګرانو په ګډون د عامه حقوقو او ګټو تامین.

۶. د ټولو اجتماعي مفاسدو او خرافاتو لکه بدې اخیستو، غوړه مالي، اسراف په زور تپلو او نورو ځخه مخنیوی او ساده او بې تکلفه ژوند ته د خلکو هڅول.

۷. د متقابلو حقونو د درناوي پر بنسټ د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د دوستانه اړیکو او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د پتمن دریځ ساتنه.

ګوند هڅه کوي، چې د عملي بېلګو په ترسره کولو، تلقین، تبلیغ او خالصانه خدماتو په ترسره کولو سره د ملت عامه افکار دغه پروګرام ته راواړوي او د پروګرام د تطبیق لپاره ګټور او مناسب قوانین جوړ او په دې لاره کې هڅې وکړي.)

## د ګوند تشکیلات

۱. د ګوند نوم وطن او مرکز یې د کابل ښار دی.

۲. هر هغه څوك، چې د افغاني تابعیت پاڼه ولري او قانوني عمر ته رسېدلی وي، په وطن ګوند کې غړیتوب ترلاسه کولای شي، ګوند کې د غړیتوب لپاره باید غوښتنلیك په لیکلې بڼه وي باید د هغه ولایت ولایتي عامل هیئت ته د دوو تنو ګوندي غړو په تائید سره وسپارل شي، چې د غړیتوب غوښتونکی هلته اوسېږي. هیئت د غړي د غړیتوب په هکله واك لري. هر هغه څوك، چې ګوند کې په غړیتوب ومنل شي، د هیئت منشي هغه ته د غړیتوب پاڼه ورکوي او مرکزي دفتر ته د غړیتوب په اړه خبرې ورکوي.

۳. د ګوند غړي باید د میاشتې یوه افغانۍ ګوند ته د غړیتوب ونډه ورکړي.

Scanned by CamScanner

## د ولایت شورا

د ولایت شورا (د تلې د میاشتې له پنځلسمې نېټې څخه مخکې)

۴. د هر ولایت د ګوند غړي په کال کې یو ځل (د تلې د میاشتې له پنځلسمې نېټې څخه مخکې) په هره نېټه او هر ځای کې، چې د اړوند ولایت عامل هیئت وغواړي غونډه کوي او د ولایت شورا په عادي شکل سره جوړوي.

۵. د ولایت شورا د ولایت د عامل هیئت او یا هم د مرکزي عامل هیئت په بلنې سره او یا هم د ولایت د غړو له نیمایي څخه زیاتو غړو په غوښتنه غیر عادي غونډې هم جوړلای شي.

۶. د ولایت شورا هغه وخت رسمیت مومي، چې د هغې اړونده له نیمایي څخه زیات غړي یې په غونډه کې حاضر وي. پرېکړې د رایو په اکثریت د منلو وړ دي.

۷. د ولایت شورا له خپلو غړو څخه عامل هیئت چې له پنځو څخه تر لسو تنو پورې وي د یوه کال لپاره غوره کوي.

۸. د ولایت شورا د ګوند د پروګرام او مرامنامې د توکو د اجراء څارنه کوي او په اړوند ولایت کې د شورا پرېکړې څاري او د اړوند ولایت لپاره لازم تصامیم نیسي، همدا رنګه ولایتي شورا کولای شي، چې د ګوند مالي چارې وڅېړي.

۹. د ولایت شورا دنده لري، چې خپل استازي مرکزي شورا کې د غړیتوب لپاره وټاکي، ددغو غړو شمېر د مرکزي شورا پرېکړې پورې اړه لري، چې د ولایت د غړو د شمېر په اندول غوره کېږي.

۱۰. د ولایت شورا دنده لري، چې د مرکزي عامل هیئت په تصویب سره د ګوند کاندیدان د پارلمان لپاره او د ښاروالیو لپاره د مشورې د غونډو په خاطر وټاکي.

۱۱. د ولایت عامل هیئت دنده لري، چې د مرکزي شورا، مرکزي عامل هیئت او د ولایتي شورا، پرېکړې د ګوند مرامنامه او پروګرام عملي او له یوې خوا څخه مرکزي هیئت ته د خپلو اجراتو په هکله او له بلې خوا ولایتي شورا ته راپور ورکړي.

۱۲. د ولایت عامل هیئت له خپلو غړو څخه یو تن د رییس په توګه د منشي او د مالي چارو مسئول (صندوقدار) په توګه ټاکي. همدارنګه له خپلو غړو څخه د تبلیغاتو مسئول، د جریدې خپرولو او د ادارې او اجرائیه چارو مسئولین ټاکي.

**لومړی تبصره:** د ولایت شورا ګانو شمېر د ولایتونو او د افغانستان د اوسنیو اعلی حکومتونو د شمېر په اندازه په پام کې نیول شوي دي.

**دوهمه تبصره:** سره له دې، چې د ګوند مرکز کابل ښار دی، خو د کابل ولایت په خپله هم لکه د نورو ولایتونو په شان (پرته له کوم امتیاز څخه) د ولایت عامل هیئت او شورا لري.

Scanned by CamScanner

## مرکزي شورا

۱۳. د ګوند مرکزي شورا د ولایتي شوراګانو له استازیو څخه جوړیږي، چې په هر کال کې یو ځل د تلي او لیندۍ د میاشتو تر منځ په هره نېټه او هر ځای کې، چې مرکزي عامل هیئت وغواړي په عادي توګه غونډه جوړولای شي.

۱۴. له دې پرته مرکزي شورا کولای شي، د مرکزي عامل هیئت په بلنه یا هم د ولایتونو د عامل هیئتونو له نیمایي څخه د زیاتو غړو په غوښتنه غیر عادي غونډه هم جوړه کړي.

۱۵. مرکزي شورا دنده لري تر څو د خپلو غړو له منځ څخه مرکزي عامل هیئت له لسو څخه تر پنځلسو تنو پورې د یو کال لپاره غوره کړي.

۱۶. مرکزي شورا دنده لري، چې د ګوند د مرامنامې او پروګرام سره سم هر کله، چې وغواړي بدلونونه راولي او د اجرا لپاره یې مرکزي عامل هیئت ته وسپاري.

۱۷. مرکزي عامل هیئت دنده لري، چې د ګوند د مرامنامې او پروګرام د موادو د عملي کولو او اجرا لپاره کار وکړي او په ټول هېواد کې د مرکزي شورا پرېکړې تطبیق کړي او د مرکزي شورا په وړاندې مسئوله ده.

۱۸. مرکزي عامل هیئت له خپلو غړو څخه یو تن رییس، یو تن منشي او یوتن صندوقدار ټاکي او کولای شي، چې له خپلو غړو څخه یا د ګوند له نورو غړو څخه د تبلیغاتي چارو او د جرایدو د خپرولو او اجراییه کار کوونکو او اداري چارو لپاره غړي وټاکي، د ګوند بودیجه ترتیب او د مرکزي شورا له پرېکړې وروسته یې تطبیق کړي.

## ګوندي انضباط

۱۹. که چېرې د ګوند کوم غړی د ګوند د لوړپوړو چارواکو د ساتیر عملي نه کړي، یا ځان له ګوند څخه جلا او مسامحه کړي، یا له خپل دریځ څخه ناوړه استفاده او کارونو کې خنډ واچوي، یا هم په خپل شخصي او ټولنیز ژوند کې د ګوند د نیک شهرت او ارزښتونو مخالف عمل وکړي، تر پوښتنې لاندې راځي او سزا ورکول کېږي.

۲۰. انضباطي سزاګانې دادي: اخطار، د غړیتوب ځنډول او له غړیتوب څخه ایستل.

۲۱. د پورتنیو تعزیري سزاګانو عملي کولو څخه مخکې له تورن څخه د ولایت عامل هیئت په واسطه تحقیق کېږي او پایله یې د ولایت شورا ته ورکول کېږي. ولایتي شورا کولای شي، چې تورن بې ګناه اعلان کړي او یا هم سزا ورته وټاکي. که چېرې د اخطار حکم یې صادر کړ، نو د ولایت د شورا پرېکړه د عملي کېدو وړ ده، خو که سزا له هغې څخه پورته وه، تورن کولای شي، چې د مرکزي عامل هیئت په حضور کې استیناف وغواړي.

ګوند د ۱۳۳۰ل کال د غویي، زمري او لیندۍ د میاشتو د مرکزي شورا په لویو غونډو کې لاندینۍ پرېکړې وکړې:

د ګوند دعامل هیئت غړي خپلو رسمي او شخصي چارو کې د عامل هیئت د پرېکړو تابع دي. د ګوند د غړو افکار او اعمال د هغو د ټولنیز اړخ له پلوه د ګوند تر پاملرنې لاندې دي. ګوندي ملګري به ګوندي انضباط په خپله خوښه مني، د نویو غړو منل د کمیت پر بنسټ نه، بلکې د نوي غړي د کیفیت پر بنسټ پر مخ ځي. د عامل هیئت غونډې هره اونۍ جوړېږي تر څو د ګوند د منشي او نورو غړو وړاندیزونه وڅېړل شي او پرېکړې وکړي.

د ګوند مرکزي شورا د ګوند د بهرني سیاست په هکله داسې پرېکړه وکړه، چې: "ګوند په نړېوال سیاست کې د غرب او شرق د دوو بلاکونو تر منځ د سولې او جګړې په مسایلو کې د سولې پلوي او ناپېيلی دی، خو په عین وخت کې د افغانستان او پښتونستان د حقوقو غوښتونکی او د نورو ټولو هغو ملتونو د حق غوښتونکی هم دی، چې تر استعماري تېري لاندې راغلي، یعنې د ګوند د نړېوال سیاست موضوع د دوو شرقي او غربي بلاکونو تر منځ د شخړې موضوع نه ده، بلکې د ګوند موضوع د ښکېلاك او د ختیزو ملتونو تر منځ شخړه ده، له همدې امله د ګوند نشراتي ارګان (وطن جریده) د پښتونستان په مسئله، د ایران د نفتو د مصر د سویز کانال او نورو مسایلو کې د خپلو خلکو د ملي حق پلویتوب کوي او د مصر، هند، سوډان، مراکش، ایران او چین او نورو خلکو د حق ملاتړ هم کوي، نو ځکه د وطن ګوند د جریدې کړنلاره د ګوند له مرام سره کټ مټ برابره ده.

همدا رنګه د ګوند مرکزي شورا دا هم ومنله چې:

"ګوند په کورنیو چارو کې په دې باور دی، چې د افغانستان نوي دیموکراتیك غورځنګونه اساساً د ټول هېواد د ټولو خلکو د غوښتنو پر بنسټ جوړ دي، نه دا چې یواځې د څو تنو روڼ اندو پر غوښتنو. روڼ اندي یواځې د افغانستان د ټولو خلکو د عدالت غوښتنې ترجمانان دي، چې نور، نو د استبداد تر درانه بار لاندې ستومانه شوي او نور، نو د ټولنیز عدالت او عمومي مساواتو غوښتونکي دي.

نو ځکه د وطن ګوند په دغه ملي مبارزه او جهاد کې دا خپله لومړنۍ دنده بولي او دې ته به دوام ورکوي. وطن ګوند د افغانستان د ځمکني بشپړتیا او ملي یووالي په یوه دیموکراتیك رژیم پورې تړلې بولي، تر څو ژبه او فرهنګ له فشار څخه وژغوري او تبعیض، استبداد او خرافات له منځه یوسي. د افغانستان ټول ملیتونه په برابره توګه او پرته له توپیر څخه د دیموکراتیکو آزادیو غوښتونکي دي او د خپل فرهنګ او ژبې وده غواړي، لوی او کوچنی، اقل او اکثر ټول مساوي حقونه لري، که نه پرته له هغه به واحد یو موټی تاریخي افغانستان د تجزیې تر ګواښ لاندې راشي)).

د ګوند مرکزي شورا په دې ترڅ کې د اوومې دورې په ملي شورا کې د ګوند فرکسیوني فعالیت هم تائید کړ، په تېره بیا د وطن ګوند استازیو په ملي شورا کې د حکومت د پرېکړو او وړاندیزونو په وړاندې انتقاد وکړ هغه یې رد کړی او خپله یې یو شمېر لوایح د هغو په وړاندې د انحصاراتو، پر عایداتو باندې د مالیاتو او په خپله خوښه باندې د غلې د پیرودنې لپاره د مدرك چمتو کولو (له خلکو څخه غلې د جبري پیرودنې پر ځای) په هکله ملي شورا ته طرحې وړاندې کړې. د وطن ګوند په دغه دول یوې کړنلارې او طرحې سره د خپرونو، اړیکو، اقتصادي، روغتیایي، فرهنګي او سواد زده کړې د

کمیټو لرونکي ګوندونو، چې دغه کمېټې د یو شمېر پخو اوپوهو ګوندي غړو په لارښوونه په کار لګیا وې. د ګوند نشراتي ارګان د وطن جریده وه، چې په ۱۳۳۰ل کال په وري (۱۹۵۱م. مارچ) کې زما (میر غلام محمدغبار) په امتیاز سره جوړه شوه، چې هره اونۍ یو ځل خپرېده، د جریدې مسئول مدیر په پیل کې علي محمد خروش او بیا وروسته میرمحمدصدیق خان فرهنګ و. حکومت دغه جرېده د ۱۳۳۰ل کال په ژمي (د ۱۹۵۲م په فبروري) کې مصادره او توقیف کړه. د وطن ګوند په خپل مرکز کې د کتابتون، تشکیلاتو، ، دفتر او منظمو کنفرانسونو لرونکي و.

د ګوند مرکزي عامل هیئت لس تنه وو: (امیرغلام محمدغبار، میرمحمدصدیق فرهنګ، برات علي تاج، عبدالحی خان عزیز، محمداکبرخان پامیر، علي احمدخان نعیمي، حاجي عبدالخالق خان، عبدالحلیم خان عاطفي، میرعلي احمدخان شامل او علي محمدخان خروش). زه (میرغلام محمدغبار) د ګوند عمومي منشي او رئیس وم، چې مرکزي عامل هیئت ټاکلی وم. صندوقدار برات علي تاج او په ملي شورا کې څلور تنه ګوندي غړي هر یو، میرغلام محمد غبار، سیدمحمدخان دهقان، سخي امین خان دوشي او محمدطاهرخان غزنوي او څو تنه نور، چې د کابل د انتخابي ښاروالۍ په انجمن کې غړي وو دا وو: سرور خان جویا، محمدآصف خان آهنګ، شیرمحمدخان آسیابان، میرمحمدصدیق فرهنګ، برات علي خان تاج او محمد حسین خان نهضت، د ګوند لګښتونه د غړو له آزادي بسپنې، غړیتوب ونډې، د وطن جریدې د پلورلو له سرچینې او له هغو پیسو څخه، چې د یوې ګوندي مطبعې له جوړولو څخه راټولي شوې وې، پوره کېدلې. د هېواد په پلازمېنه او ولایتونو کې د ګوند د غړو او پلویانو شمېر د خلکو په بېلابېلو قشرونو کې، په تېره بیا د روڼ اندو په منځ کې مخ په زیاتېدو و. په هر حال، په بېلابېلو ډګرونو کې د وطن ګوند سیاسي مبارزې په سیستماتیکه بڼې سره دوام درلود او د حکومت له هر ډول ګواښ سره سره له خپل دریځ څخه نه راټېټېدې، نو ځکه دولت د دغه ګوند په وړاندې ورځ په ورځ په غوسه کېده او قهر یې وړباندې زیاتېده او تبلیغاتي سازمان یې د وطن پر ګوند باندې خپل بریدونه زیاتول. په دې لړ کې د مطبوعاتو ریاست په پرله پسې توګه د وطن جریده جرم کوله، تر څو چې په پای کې یې د وطن جریده توقیف کړه. دولتي لیکوالانو او په دې لړ کې برهان الدین خان کشککي، عبدالصبورخان نسیمي، محمداکبرخان اعتمادي او نورو... په خپلو مقالو کې د وطن ګوند او د هغه خپرونه تر کنځلو او تهمتونو لاندې راوستل او مفتي صلاح الدین خان سلجوقي د ګوند د غړو په ضد باندې منظوم هجو لیکونه خپرول. په ملي شورا کې د خوست د تنیو یووکیل (الله میرخان) یې ولمساوه او هغه په چاره باندې دوطن ګوند په پارلماني استازي (ما) باندې برید وکړ، خو د شورا کېنو لاسو وکیلانو د هغه لاس ونیو، د کابل والي عبدالحکیم خان امر وکړ، چې د شپې له خوا د وطن ګوند د دفتر او دوطن د جریدې لوحې دواړه د پولیسو په لاس راکوزې کړي. د کابل د امنیې قومندان په رڼا ورځ د وطن ګوند دفتر وپلټه، د دولت پروپاګندچیانو د وطن ګوند رهبران په خارج پالنه تورن کړل، تر څو چې په پای کې دولت د ګوند جریده توقیف کړه او د ګوند ۱۴ تنه فعال غړي یې یو ځل او څلور تنه نور یې په بل ځل زندان ته واچول، په دې ډله کې پېنځه تنه (ډاکتر ابوبکرخان، ډاکتر عبدالقیوم خان،

ډاکټر غلام فاروق خان، عبدالحی خان عزیز او سلطان احمد خان). له ۱۳۳۱ل. کال څخه تر ۱۳۳۲ل (۱۹۵۲- ۱۹۵۳) پورې او پينځه تنه نور (میرغلام محمد غبار- میرمحمدصدیق فرهنګ، عبدالحلیم خان عاطفي علي احمدخان نعیمي او علي محمدخان خروش) له ۱۳۳۱ل. څخه تر ۱۳۳۵ل (۱۹۵۲- ۱۹۵۴) پورې بندیان وو، درې تنه د ګوند نور غړي (فتح محمد خان میرزا، سرور خان جویا او برات علي خان تاج) له لسو کالو څخه هم زیاته موده بندیان شول، جویا د خپل بند په نهم کال په زندان کې ومړ. وروسته بیا څلور تنه نور د وطن ګوند غړي (حاجي عبدالخالق خان، میرعلي احمدخان شامل، محمدآصف خان آهنګ او نادرشاه خان هاروني) له ۱۳۳۲ څخه تر ۱۳۴۱ (۱۹۵۷- ۱۹۶۲م.) پورې بندي وو. دغو څلورو تنو وروسته تر هغه، چې د ګوند مرکزي د عامل هیئت موسسین په ۱۳۳۱ل کال کې بندیان شول، له درې تنو نورو محمداسلم خان اخګر، شیرمحمدخا آسیابان او غلام حیدرخان پنجشیری) سره یو ځای د وطن ګوند موقتي عامل هیئت په کابل کې تشکیل کړ، د وطن ګوند یو بل غړی (محمد طاهرخان غزنوي) د بند په هماغه لومړي کال له زندان څخه خوشې شو (۱۳۳۱ل) وروسته بیا صدراعظم محمدداود خان په (۱۳۳۵ل.) کې په رسمي توګه د وطن ګوند د انحلال امر صادر کړ.

واکمنې کورنۍ د وطن ګوند د غړو په بندي کولو بسنه ونه کړه، بلکې د دغه ګوند د لا زیات تخریب او نړولو لپاره یې دا هڅه هم وکړه، چې په محبس کې د ننه په ګوند کې لاسوهنې وکړي، نو ددې موخې لپاره یې له یوې خوا د کابل والي عبدالحکیم شاه عالمي په لاس دا هڅه وکړه، چې د وطن ګوند د بندي شویو غړو تر منځ په زور، ګواښ او تخویف سره نفاق واچوي، له بلې خوا واکمنې کورنۍ د سید قاسم رښتیا په لاس هڅه وکړه، چې یوه بله ډېره خطرناکه دسیسه پر مخ بوځي. سید قاسم رښتیا د مالیې د وزیر میرهاشم خان له کورنۍ څخه او د کابل د مستوفي سید حبیب خان زوی و، ده له ځوانۍ څخه دا هلې ځلې کولې، چې د حکومت په چوپړ کې ووسي، له دې پرته نوموړی د ضبط احوالات له رییس مرزا محمدشاه خان سره ځان نږدې کړی و او د واکمنې کورنۍ پاملرنه یې ځانته اړولې وه،، په دې توګه یې نه یوازې دا چې د ریاست، وزارت او سفارتونو پوړۍ ژر-ژر یو په بل پسې ووهلې، بلکې د بېلابېلو کابینو غړي هم شو. په دغه سړي باندې دَ واکمنې کورنۍ باور دومره زیات و، چې په ډېرو حساسو وختونو کې د مطبوعاتو رئیس او بیا د مطبوعاتو وزیر شو، نو په همدې وختونو کې د افغانستان د رښتینو روڼ اندو د آثارو د کنترول او سانسور د څارلو دنده هم ورته سپارل شوې وه، د واکمنې کورنۍ په دوره کې د ضبط احوالاتو څانګې په افغانستان کې د استبداد او مطلقیت شاهرګ و. د ضبط احوالات د رییس دنده د خپلواکۍ غوښتونکو مبارزینو او حقیقي روڼ اندو څارنه او له دغو ډلو څخه د زندانونو ډکول و، یوازې به یې له صدراعظم او پاچا څخه په سیده توګه وظیفه ترلاسه کوله او د اسرارو او مهمو رازونو په هکله به یې یوازې پاچا او صدراعظم ته راپورونه ورکول. یو بل یوازینی څوک، چې د صدراعظم په هدایت په دغو شرارت اچوونکو اسرارو کې شریك و هغه د وزیرانو د مجلس منشي و، چې هغه هم باید د واکمنې کورنۍ ته ډېر زیات د باور وړ وای، نو کله چې سیدقاسم رښتیا د وزیرانو د مجلس منشي و دغه درنده استخباراتي دنده یې دغې کورنۍ ته ترسره کوله.

Scanned by CamScanner

يو بل لامل، چې واکمنه کورنۍ د وطن ګوند ته د زيان اړولو په موخه اړه شوه، چې سيد قاسم رښتيا ته دنده وسپاري، دا و چې هغه د وطن ګوند ؛ بندي شوي غړي ميرمحمدصديق فرهنګ ورور و، چې کولای يې شوای چې د خپل دغه ورور له طريقه ګوند ته لاره ومومي، دا مهال ميرمحمدصديق فرهنګ د واکمنې کورنۍ د زندان د ډېروستونزمنو او ويروونکو شرايطو څخه ډېر زيات ويرېدلي وو او د کابل والي شاه عالمي پر له پسې ګوابښ او ويرولو له امله يې خپل روحي مقاومت له لاسه ورکړی و، په داسې يو حساس وخت کې سيد قاسم رښتيا د واکمنې کورنۍ يو لوړ پوړی مامور، څو ځله د کابل د والي شاه عالمي په دفتر کې له ميرمحمدصديق فرهنګ سره ليده کاته وکړل او په راز راز وعدو سره يې هغه تېر ايست.

مير محمدصديق فرهنګ ددغو ټولو فشارونو او چلوټو په وړاندې ټينګ نه شو او په پای کې تسليم شو. آن دا، چې داسې هڅې يې هم وکړې، چې دا وښيي، چې له سياسي حبس څخه د خلاصون لپاره حکومت ته د عريضې ورکول يو سم اقدام دی. په دې توګه ميرمحمدصديق فرهنګ د وطن ګوند يو دوه نور بندي شوي غړي هم دوکه کړل او ځان سره يې کړل، خو ددغه کتاب ليکوال (ميرغلام محمدغبار) او دوطن ګوند نور زيات شمېر غړو لکه سرور خان جويا او فتح محمدخان ميرزا له دغه ډول تسليم طلبۍ سره ډېر کلك مخالفت وکړ او ويې ويل، چې دا کار به ددې لامل شي، چې دوی به د واکمنې کورنۍ لمنې ته اوړ واچوي او بيا به ورڅخه خلاصون نه وي. د وطن ګوند زياتره بندي غړو پرېکړه وکړه، چې هېڅکله به حکومت ته نه تسليمېږي او هغه وګړنيز دروندوالی او غوره دريځ به کلك وساتي، چې په هغه سره مبارزه کوي. ميرمحمدصديق فرهنګ، چې کله له زندان څخه راخوشې شو او بيا يې له محمدداود خان سره ليده-کاته وشول، وروسته تر هغه د وطن ګوند له نورو غړو څخه لرې شو او بيا وروسته د يوه وزارت مرستيال شو او بيا پسې د يوه حساس اروپايي هېواد په پلازمېنه کې د واکمنې کورنۍ سفير شو (بلګراد د يوګوسلاويا پلازمېنه) کله، چې شورا ته د وکالت لپاره کانديد شو، نه يواځې دا چې واکمنې کورنۍ له هغه سره کوم مخالفت ونه کړ، بلکې د هغه وخت د ماليې د وزير (سيدقاسم رښتيا) په مرسته يې دا لاره هواره کړه، چې ميرمحمدصديق فرهنګ او ميرمن رقيه ابوبکر (ددغو دواړو خور) شورا ته په برياليتوب کې مخکې شي، له دې پرته ميرمحمدصديق فرهنګ له واکمنې کورنۍ سره هغه مهال لا زيات نږدې شو، چې دده دوو زامنو (سيد فاروق فرهنګ) د هندي الله نواز له لور سره او سيدامين فرهنګ د نادرشاه د تره دزوی او د دربار د وزير احمدشاه خان له لور سره واده وکړ. په دې توګه سيدقاسم رښتيا، چې د حکمرانې (واکمنې) کورنۍ يو پخوانی خادم و، خپلې موخې ته ورسېد او فرهنګ له زندان څخه دننه ګوند ته ورکړ ډېر لوی و. هغه ګوزار ، چې ميرمحمدصديق ميرمحمدصديق فرهنګ يې ددغې کورنۍ په سياسي ټغر کې ونغاړه.

صدراعظم محمدداود خان په ۱۳۳۵ل کال چې د صدارت دنده ترلاسه کړې وه، په همدغه کال کې د وطن ګوند دد يو شمېر خلاصو شويو غړيو سره، چې له زندان څخه ووتل، د ميرمحمدصديق فرهنګ په ګډون غوښتنه وکړه، چې دده له حکومت سره مرسته وکړي، هغو غړو ، چې د صدراعظم دغه دوکه کوونکې بلنه

ومنله، ورو ورو د واکمنې کورنۍ په سیاست او حکومت کې ورګډ شول او نور هم ډوب شول، تر څو چې ورو ورو د افغانستان د ننه او بهر دولتي لویو دندو کې مقرر شول.

خو هغو غړو، چې د صدراعظم دغه بلنه ونه منله او د خلکو په لاره کې خپل ارمان ته وفادار او ژمن پاتې شول. لسګونه نور کلونه د واکمنې کورنۍ د استبداد تر فشار لاندې وو او دا هڅې هم وشوې، چې هغوی بېخي تجرید شي. صدراعظم محمدداود خان زه (میر غلام محمد غبار) هم په ۱۳۳۵ کال کې وروسته له هغه، چې له زندان څخه راووتم، صدارت ته ور وغوښتلم او کله یې چې راسره خبرې کولې، زه یې حکومت سره مرستې کولو ته وبللم. ما د هغه دغه بلنه ونه منله او ورته مې وویل:

"یو ملت د خپل ملي حاکمیت او خپلواکۍ د ساتنې لپاره یو ملي خپلواک رهبر او ډیموکراسۍ ته اړتیا لري، چې د یوه یا دوو تنو ارادې پورې نه وي تړلي، ددې موخې لپاره او د خلکو د سیاسي ودې لپاره یو شمېر آزادو ګوندونو او جرایدو ته اړتیا ده او ملي او خپلواکو ګوندونو ته باید اجازه ورکړل شي. زه د وطن ګوند د ملي جریدې د امتیاز خاوند یم، چې پخوانی حکومت د هغې د خپرېدو مخه ونیوله، همدا رنګه زه د وطن د ملي ګوند منشي او موسس یم، چې پخوانی حکومت هم ممنوع کړ، اوس تاسې وایاست چې افغانستان د ترقۍ په لاره روانېږي، نو حکومت باید د ګوندونو او مطبوعاتو آزادي اعلان کړي او مونږ دې پرېږدي، چې وطن ګوند او وطن جریده په آزادانه توګه فعال کړو." صدراعظم محمدداودخان لکه د خپل تره نادرشاه په شان په ځانګړې غوسې سره وویل: حکومت یوه ناحکومتي ګوند او کومې جریدې ته اجازه نه ورکوي، وطن ګوند او جریده ددغه حکومت له خوا منحل شوې او تاسې، چې له حکومت سره مرسته نه کوئ، خپل کور کې اوسئ او حکومت به څارنه کوي. د واکمنې کورنۍ دغه پرته له کومې قانوني محکمې څخه صادر شوی استبدادي امر څه نا څه شل کاله زما په وړاندې نافذ و، او په دغه موده کې نه یواځې دا، چې ما ته د جریدې د خپرولو او د ګوند فعالیت اجازه نه وه، بلکې په نورو خپرونو کې مې هم مقاله نه شوه خپرولای، د همدغه استبدادي چلند له امله وروسته بیا د واکمنې کورنۍ له خوا د (افغانستان در مسیر تاریخ) کتاب لومړی ټوک (چې همدا یې پښتو ژباړه ده. ژ) د واکمنې کورنۍ له خوا حبس شو، همدا رنګه کله چې واکمنې کورنۍ په دوهم ځل (ډیموکراسي) له (پورته) څخه اعلام کړه، نو هغه مهال یې هم نه یواځې دا، چې د کابل ښار انتخابي حوزو کې په توطیې سره ملي شورا ته زما د انتخاب کېدو مخنیوی وکړ، بلکې له زور څخه یې هم کار واخیست. ددغې (دولتي دیموکراسۍ) بدناموونکې دوره کې، کله چې حکومت زه د نوي اساسي قانون د تسوید د کمیسیون د غړي په توګه وټاکلم، ما له هغه څخه استعفا وکړه او همداسې مې هم په مصنوعي ګوندونو او رسمي ماموریتونو کې له ګډون څخه ډډه وکړه.

په هر حال، باید په پام کې ونیول شي، چې د وطن ګوند د غړو د سیاسي بندیتوب د واکمنې کورنۍ د میراثي چلند سره سم و، چې نه یې کوم ابتدایي تحقیقات لرل، نه استنطاق و او نه کومه محکمه او قانوني حکم، چې یواځې د صدراعظم په شفاهي امر به تر سره کېدل، کله چې دغه پېښه د افغانستان د وزیرانو په غونډه کې مطرح شوه، نو داسې پرېکړه یې وکړه، چې: "له دې امله چې بندیانو والا حضرت

صدراعظم خپه کړی دی، نو دوی باید هغومره وخت بندیان پاتې شي، تر څو چې د والا حضرت خوښه وي.

د وطن ګوند سره د حکومت دغه چلند همدلته پای ته ونه رسېد، بلکې مخکې تر دې، چې حکومت د ګوند فعال غړي بندیان کړي، دوه اونۍ یې په پرله پسې توګه د کابل راډیو له لارې سهار او ماښام د یو شمېر تالي څټو ملایانو په خوله باندې په عربي مقولاتو شرعي فتاوی خپرولې، چې ګواکې دغه ګوندي مظاهره کوونکي د ملي شورا د انتخاباتو په ورځ د شر او فساد منبع ګرځېدلي وو او د شرع په حکم باید د دوی یو لاس او یوه پښه په متخالفه بڼه (یعنې ښي لاس او کیڼه پښه یا ددې سرچپه) پرې کړل شي.

د دغو فتواګانو نامتو خطیب ملا عبدالقدیر خان شهاب و، چې حکومت بیا هغه ته ددغو چوپړونو په بدل کې د ماموریت ترفیع ورکړه.

همدا رنګه حکومت خپلو حاکمانو ته دا امر هم وکړ، چې له لرې لرې ځایونو څخه د صدراعظم په نوم داسې عریضې د خلکو په نامه را واستوي او له نږدې ځایونو څخه د خلکو د استازیو په نامه څو تنه راټول کړي او صدارت ته دې راولي او له صدراعظم څخه دې غوښتنه وشي، چې مظاهره کوونکي سزا ووینې او یا د عریضه کوونکو لاس ته ورکړل شي، چې سزا ورته ورکړي. البته د کابل له شا و خوا څخه ژر یو څو تنه صدارت ته راواستول شول.

حال دا چې دوی د موضوع له سوابقو څخه خبر نه وو، حاکمانو دوی له صدراعظم سره د لیدو کاتو په نوم رالېږلي وو، کله چې دوی د صدارت انګړ ته راورسېدل، صدراعظم به ورڅخه پوښتنه کوله او یوه خندوونکې لوبه به پیل شوه. یو تن چې له مخکې څخه د حکومت په لمسون یو تیاره لیکل شوې پاڼه راله، هغه یې له جیب څخه راکښله او د حاضرینو په استازیتوب یې ولوستله، دوهم تن به پاڅېد، څه خبرې به یې وکړې، چې روڼ اندي، په تېره مظاهره کوونکي به یې زندقیان وبلل او د دوی د قتل، صادرې، غړو پرېکولو او قصاص غوښتنه به یې کوله، درېیم تن به د مجلس له لوري پاڅېد او د سلطنت د کورنۍ د احسانونو، ښېګڼو او ستاینو پرېړې به یې لوستلې. بیا به په خپله د صدراعظم وار راغی او هغه به د زرم ځل لپاره د شاهانه رعیتونو وفاداري او د سلطنت د بې پایه رحمتونو په هکله د سلطنتي کورنۍ همغه پخوانی ریکارډ غږ او په تکراري توګه به یې غونډه د شاهي کورنۍ د اقبال او د زر کلن عمر لپاره په دعا سره پای ته رسوله. په هغه سبا به د دولتي اخبارونو پاڼې له همدې خبرونو څخه ډکې وې او تالي څټو لیکوالو به ورباندې تبصرې او حاشیې هم لیکلې وې. (وګورئ: د هغه مهال اصلاح او انیس اخبارونه، د بېلګې په توګه د ۱۳۳۱ل. کال د انیس د غویي د میاشتې ۱۴مه ګڼه).

وروسته تر هغه، چې حکومت دغه ګوندیان زندان ته واچول، لاندینۍ رسمي وینا یې په کابل راډیو او دولتي اخبارونو (اصلاح او انیس کې په ۱۳۳۱ کې) خپره کړه:

کابل: د کورنیو چارو وزارت لاندینۍ اعلامیه خپروي:

"له څه مودې رادې خوا یو شمېر ماجراجو عناصر د امنیت د ګډوډولو او د هېواد دښمنانو په ګټه تخریبي فعالیتونه او توطیې ترسره کوي، له دې امله چې پولیس له څه مودې راهیسې وضعیت تر څارنې لاندې

نیولی و، نو په پای کې یې د هېواد د ګټو د ساتنې او امنیت د ساتلو په موخه، دغه ګوندي غوښتونکي ډله ونیوله او هغه یې توقیف کړه، چې نومونه یې دادي:
میر غلام محمد غبار، عبدالرحمن محمودي، عبدالحی عزیز، میرمحمد صدیق فرهنګ، برات علي تاج، غلام سرور جویا، عبدالقیوم رسول، علي محمد خروش، فتح محمد، د خدای بخښلي ولي علي احمد خان زوی سلطان احمد خان، نصرالله یوسفي، غلام فاروق اعتمادي، امان الله محمودي، ابوبکر، عبدالحلیم عاطفي، علي احمد نعیمي او محمد رحیم محمودي. د بندیانو د ډلې په دغه اعلامیه کې څلور تنه د خلق د ګوند غړي وو، چې نومونه یې دا وو: ډاکتر عبدالرحمن محمودي، ډاکتر نصرالله خان یوسفي، امان الله خان محمودي او محمد رحیم خان محمود، خو پاتې نور ټول د وطن ګوند غړي وو.

## خلق ګوند

غواړم ووایم، چې د خلق ګوند یو شمېر غړي ژوندي او لیکوالان دي او تمه شته، چې د دغه ګوند پوره تاریخچه به ولیکي، نو ځکه به زه دلته یوازې عمومیات ولیکم:
په ۱۳۲۹ل. (۱۹۵۰م) کې د خلق ګوند په کابل کې تاسیس شو. عبدالرحمن خان محمودي د خلق ګوند مشر د کابل له پوهنتون څخه د طب په څانګه کې فارغ شوی و، له خلکو سره په طبي دندو کې د نوموړي صادقانه همدردي او ښه چلند، هغه ډېر ژر په کابل کې د نوم خاوند کړ او دده سپینو خبرو دده ټولنیز ارزښت څرګند کړ. ډاکتر محمودي د ۱۳۲۷ل. (۱۹۴۸م) کال د کابل د ښاروالي په ټاکنو کې لومړی ځل راڅرګند شو او د سیاست ډګر ته یې ګام کېښود. هغه په عمومي غونډو کې انتقادي او انتباهي وینا ګانې وکړې، چې د کابل خلکو ورته ډېر ښه هر کلی ووایه.
حکومت هغه له همدې امله څو اونۍ بندي کړ او بیا یې بېرته خوشې کړ. وروسته بیا ډاکتر محمودي د ملي شورا په اوومه دوره کې وکیل شو. د خلق د ګوند یو شمېر نامتو غړي دا وو: ډاکتر عبدالرحمن خان محمودي (دګوند مشر) محمد نعیم خان شایان (د ګوند منشي) مولوي خال محمد خان خسته، مولوي فضل ربي خان، عبدالحمید خان مبارز، داکتر عبدالله خان واحدي، محمد یوسف خان آیینه، نور علم خان مظلوم یار، غلام احمد خان رحماني، محمد طاهر خان محسني، عبدالرحیم خان غفوري، محمد یونس خان مهدي زاده، ډاکتر نصرالله خان یوسفي سید احمد خان هاشمي، محمد ابراهیم خان، حفیظ الله خان عبدالرحیم زی، ډاکتر عبدالاحد خان رشیدي، ډاکتر عبدالله خان رشیدي او یو شمېر نور.
د ګوند خپرني ارګان د (ندای خلق) جریده وه، چې د امتیاز خاوند یې په خپله ډاکتر محمودي او مسئول مدیر یې ولي محمد خان عطایي (د هغه زوم) و. جریده د ۱۹۵۱ په اپریل (د ۱۳۳۰ل. کال په غبرګولي) کې تاسیس او د همدې کال په جولاې کې د حکومت له لوري توقیف شوه. د خلق ګوند مرامنامه په لاندې ډول وه: (د ندای خلق د جریدې د ۱۳۳۰ کال د چنګاښ د ۱۲ نېټې له ۲۹ ګڼې اخیستل شوې ده):

Scanned by CamScanner

## د خلق ګوند مرامنامه

۱- خلق ګوند یو ملي ګوند دی، چې د دیموکراسۍ پر معلومو بنسټونو ولاړ دی.
۲- د اسلام د سپېڅلي دین تبلیغ او تفهیم او د اسلام پر بنسټ باندې د اعمالو اصلاح د خپل پرمختګ او بری یواځې عامل بولي.
۳- له دې امله، چې خلق ګوند د رښتینې دیموکراسۍ ګوند دی، نو ځکه د دیموکراسي د موخې یعنې د خلکو د حکومت جوړول د خلکو په لاس باندې او د خلکو لپاره مبارزه کوي.
۴- د خلق ګوند د حکومت بنسټ د آزادو او پټمنو انتخاباتو، د درې ګونو قواوو تر منځ د اساسي مساواتو او د ټاکنو پر بنسټ د یوې شورا د جوړولو پر بنسټ او دیموکراسۍ په اصولو باندې ولاړه بولي او دغې موخې ته د رسېدو په خاطر هڅې کوي.
۵- په حقوقو او محاکمو کې د ټولنیز عدالت ډاډمنتیا مر په خلکو باندې د ظلم مخنیوی د یوه مصئون او ډاډمن ټولنیز ژوند برابرول، د عمومي معارف خپرول، د بنسټیزې روغتیا د ژوند ډاډمن کول، د فکر او بیان د آزادۍ تامین او د خپرونو شتون، په کار کې د ټولنیز عدالت تامین او د سیاسي حقوقو ارتقا د ګوند مهمې او لومړنۍ دندې دي.
۶- خلق ګوند خپلې ټولې ټولنیزې دندې، چې په پېنځم توک کې راغلي دي. د اساسي قانون په خپرولو او د خلکو له عمومي افکارو څخه رامنځته شوې دیموکراسۍ باندې تامین او د قانون په واسطه د سیاسي او قانوني عدالت، ټولنیز عدالت او د قوانینو اصلاح او تعدیل مهم وظایف بولي.
۷- د وطن د ناموس او د خاورې د بشپړتیا ساتنې په لاره کې سربښندنه د خلق ګوند لومړنۍ فریضه ده له هغو ټولو عواملو سره په مبارزه کوي، چې دغه سپېڅلی هدف ګواښ سره مخامخ کوي او په دې لاره کې سربښندنه خپل فرض بولي.
۸- د خلق ګوند ملي یووالی د خپلو فرایضو بنسټ ګڼي، نو ځکه ټول هغه وګړي چې د افغانستان د سیاسي پولو دننه ژوند کوي پرته د نژاد، ژبې، رنګ، پوستکي او نورو توپیرونو له مخې ټول یو واحد وجود بولي او د قانون په وړاندې یې د مساوي حق لرونکي ګڼي. هر ډول امتیاز پالنه او تفرقه جویي د دیموکراسي له اساساتو او ټولنیز عدالت سره منافي (ضد) ګڼي.
۹- خلق ګوند کار د نیکمرغۍ عامل بولي، بیکاري شرم بولي، نو ځکه په ټول هېواد کې د کار ځایونو د جوړولو په خاطر او کار ته د خلکو لاربنوونه د عصري ښوونې او روزنې په وسیله د خلکو د کار د وړتیا لوړول، په کار کې د ټولنیز عدالت ډاډمنتیا، دکارګر د حقوقو ساتنه، د ځبېښاك او اسارت له منځه وړل، د کار په ډګر کې د کارګر د حق ورکړه (هم د کار پر مهال او هم د بیکارۍ پر مهال) او ټولنیز تضمین د قانون له مخې خپل فرض بولي او په کار کې پرمختګ او د دریځونو ترلاسه کول کوم خانګړي شخصیت او قوم پورې تړلې نه بولي، بلکې یواځې او یواځې مهارت، سربښندنه او په کار کې استعداد د پرمختګ او په کار کې دریځ د ترلاسه کولو د بنسټ په توګه مني.
۱۰- د خلق ګوند دفردي ګټو د تامین برخلاف، د فرد د حق او فردي آزادیو پلوی دی، خو هغه کسان،

Scanned by CamScanner

چې دفردي آزادیو او حقونو د دفاع په نوم په غیر مشروع ډول فعالیت کوي، د فرد او ټولنې نیکمرغي ګواښي، منفعت جو بولي او د دیموکراسۍ د قوانینو له مخې ورسره مبارزه او چلند کوي.

۱۱- هغه کسان، چې د نامشروع اعمالو او کړنو په اعمالولو سره مال او دریځونه خپلوي او هغه په خلکو باندې د تحکم وسیله وګرځوي او په قصدي توګه د عامه ګټو برخلاف کار وکړي، د ملي خاین په توګه یې پېژني او د ټولنیز عدالت تامین او په دې ډول حالاتو کې د ټولنیز عدالت پر ځای کول خپل اساسي فرض بولي.

۱۲- د خلق ګوند د دیموکراسي بنسټونه او د اسلامي شاهي مشروطیت ته خپله وفاداري یوه فریضه بولي، نو ځکه د درې ګونو قواوو تر منځ د تعادل راوستل او په ټولنه کې د حقوقي حدودو روښانه کول او د دولت او ملت د دندو تشریح خپله وجیبه بولي.

۱۳- د ټولنیزو چارو سمون، د ټولنیز عدالت ډاډمن کول، د مالیاتو، محصولاتو او نورو ټولنیزو فعالیتونو په برخه کې د عدالت رعایت، د قوانینو په تطبیق کې برابري، ټولنیزو چارو، مالیاتو، ټولنیزو او عامه چارو کې د برخې اخیستلو، د خلکو په ګټه په چارو کې ګډون د ګوند لومړنۍ دنده او په ټولنیزو چارو کې هېڅ ډول امتیاز روا نه بولي.

۱۴- په ټولنیزو چاروکې آزادي، د ګوند لومړنی فرض او بنسټ دی، نو ځکه په هره ځانګه، مسلک او سوداګرۍ او صنعت کې د برخې اخیستنې آزادي د دیموکراسي د بنسټ په توګه مني، له هغه ډول شخصي او فردي انحصار سره مبارزه کوي، چې د خلکو ګټې له ګواښ سره مخامخ کوي.

۱۵- له ګاونډیو سره د ښو اړیکو ساتنه (تر هغه ځایه پورې، چې د ملي ناموس او خپلواکۍ په زیان نه وي) نړیوالو قوانینو ته درناوی، د بشر د حقونو د لومړنیو اساساتو اطاعت کول تر هغه ځایه پورې، چې د اسلام د مبارك دین له اصولو سره اړخ لګوي او د عمومي سولې په لاره کې مرسته د خلق د ګوند فریضه ده او په دې لاره کې خپله هر ډول مرسته نه سپموي.

۱۶- د بشر د طبیعي حقونو او آزادیو خوندیتوب، یعنې د ژوند، کور، اړیکو د بیان او فکر آزادي او په ټولنیزو چارو او خپرونو کې آزادي یو فطري اصل ګڼي، نوځکه د بشر په دغه ډول طبیعي او فطري حقونو باندې تیری استبداد بولي او له هر ډول استبداد او تیري سره مبارزه کول خپل فرض او د ګوند اساسي فعالیت حسابوي.

۱۷- د ګوند تشکیلات جوړول، د مرکزي او ولایتي ځانګو دندې، د اساسي قانون تعدیل او اصلاح، د دولت اساسي تشکیلات، د انتخاباتو قانون، د دندو د تفریق قانون، د مامورینو د دندو ښودل، د کار او کارګر قانون او د هغو ټولو عملي کول او د قانون په واسطه په ټولو ډګرونو کې د ټولنیز عدالت رعایت کول د خلق د ګوند اساسي وظایفو څخه دي، چې د دیموکراسۍ د څرګندو جریاناتو په اساس خوندي کېږي.

۱۸- د ګوند غړیتوب، ګوندي اخلاقو ته په ترلتیا پورې، یعنې د دندې ترسره کولو او زړورتوب، اخلاقي ثبات او د ګوندي او اسلامي اساساتو په نشرولو او د عامه حقونو په لاره کې د سربښندنې په

Scanned by CamScanner

واسطه ترلاسه کېږي، نو د هر ډول امتیاز او حق په ګوند کې د نه منلو وړ ده او د ټولنیز عدالت خلاف بلل کېږي.
۱۹- دګوند د داخلي دندو قانون، د ګوند په لوړو پوړونو کې منل کېدل. اخطار او آن له ګوند څخه د ایستلو سزا، د ګوند د رییس ټاکل او د ګوند د تشکیلاتو جوړول د ګوند د لویې غونډې په پرېکړې سره کېږي او د هغو د اساساتو منل او عملي کول د ګوند د هر غړي دنده ده.
۲۰- هر هغه وګړی، چې افغاني تابعیت ولري، په دې شرط چې د هغه په سوابقو کې د ګوند د اساساتو او دعامه حقونو برخلاف څه نه وي، پرته له کوم توپیر څخه د ګوند غړی کېدلای شي.
۲۱- هر هغه څوک، چې د ګوند غړی کېږي، باید عمر یې له اتلسو کلونو څخه کم نه وي.
۲۲- هغه څوک، چې د خلق ګوند غړي کېږي، باید د میاشتې لس افغانۍ د ګوند د چارو پر مخ بیولو او د ګوند د پیاوړتیا په خاطر ورکړي او د خلق د صحنې په ونډو کې د یوې ونډې اخیستل هم حتمي دي.
تبصره: بېوزله او نادار کسان د ټاکل شوي هیئت د پرېکړې له مخې مستثنی دي.
۲۳- ددغې مرامنامې د موادو زیاتول- بدلول او سمول د ګوند د لویې غونډې د اکثریت په نظر پورې اړه لري (خو هېڅ داسې کومه ماده د منلو وړ نه ده، چې د اسلام د دین، ملي یووالي، عامه آزادیو، د افغانستان سیاسي پولو او عامه حقونو په خلاف وي).
۲۴- هغه څوک، چې د خلق ګوند کې غړیتوب ترلاسه کوي، لاندې لوړه به ترسره کوي:
"زه د خدای پاك په نوم او ناموس سره لوړه کوم، چې د خلق د ګوند د اساسنامې ټولو موادو ته به صادق اوسم او د ګوندي چارو د پر مخ بیولو په خاطر به له هېڅ ډول سرښندنې څخه ډډه نه کوم او له ګوند څخه د وتلو په صورت کې به هم د ګوند اسرار پټ ساتم والله باالله تاالله."
په هر حال: کله چې حکومت د سیاسي ګوندونو د له منځه وړلو متې راونغاړلې، د خلق پر ګوند یې هم برید وکړ او د خلق ګوند یو شمېر غړي یې د عبدالرحمن محمودي په ګډون په ۱۳۳۱ل کال کې ونیول او زندان ته یې واچول. خو له دې څخه دوه ورځې مخکې یې دوه نور غړي (عبدالحمید مبارز او محمدیوسف خان آیینه) له مظاهرې پخوا توقیف کړي وو. د خلق ګوند سیاسي بندیان دا وو: ډاکټر عبدالرحمن خان محمودي، محمدنعیم خان شایان (ددغه سړي کور وپلټل شو او یو شمېر پاڼې او کتابونه یې ضبط شول) نورعلم خان مظلوم یار محمدیونس خان مهدي زاده او دده ورور محمد سلیمان خان، ډاکتر نصرالله خان یوسفي او د ډاکتر محمودي وروڼه (ډاکتر محمدرحیم خان، محمدعظیم خان او امان الله خان).
عبدالحمید خان مبارز او محمدیوسف خان آیینه وروسته تر درې میاشتو بند څخه او ډاکتر محمدرحیم خان محمودي او محمدعظیم خان محمودي او ډاکتر نصرالله خان یوسفي وروسته تر یو کال څخه راخوشې شول. نورعلم خان مظلوم یار له خپل کور او سیمې (میدان) څخه وایستل شو او په تخار کې تبعید شو او تر ۱۹۶۳م. پورې یعنې له لسو کالو څخه زیات په تبعید کې وساتل شو او بیا څو کاله بندي هم شو. محمدنعیم خان شایان، محمدیونس خان مهدي زاده د هغه له ورور محمدسلیمان خان سره

Scanned by CamScanner

بندي شو، چې امان الله خان محمودي هم ورسره له ۱۳۳۱ل. څخه تر ۱۳۳۵ل. پورې په زندان کې پاتې شو. په خپله ډاکتر عبدالرحمن خان محمودي له ۱۳۳۱ څخه تر ۱۳۴۰ل پورې په زندان کې پاتې شو، تر څو چې په ناروغیو اخته او له پښو ولوید، بیا نو حکومت هغه خپل کور ته واستاوه. ډاکتر محمودي له دې څخه اووه میاشتې وروسته د ۱۳۴۰ل کال د تلې په میاشت کې د ډېرو زیاتو کړاوونو له لیدلو څخه وروسته له نړۍ څخه سترګې پټې کړې. په دې توګه د خلق ګوند هم د هېواد د نورو ګوندونو په کتار کې له منځه ولاړ.

## د اتحاد پټ (سري) ګوند

د بلخ ولایت امنیه قومندان خواجه محمد نعیم خان کابلي (د شاه محمود خان د صدارت د دورې قومندان) له یو تن مذهبي رهبر او د هېواد عالم (سید اسمعیل خان بلخي) سره آشنا شو. خواجه په پیل کې د محمدهاشم خان په دوره کې د ضبط احوالات یو مامور و او هغه ټول جنایات ورته معلوم و، چې په افغانستان کې د ضبط احوالات د ریاست له خوا ترسره کېدل، وروسته بیا خواجه د کابل د امنیې قومندانۍ قومندان شو، چې د حکومت له ورانیو او ظلمونو څخه لا زیات نور هم خبر شو، داځکه چې هغه په خپله یو د باور وړ او عملاً بوخت سړی و، خو د ضمیر محکمې یې خواجه ورځ په ورځ بدل کړ. کله، چې په مزار کې له سید اسمعیل سره آشنا شو، یو بل سړي ور څخه جوړ شو، یعنې د سیدبلخي خبرو چې یو وطنپال روحاني، فاضل شخص او د وخت په غوښتنو پوه سړی و او د افغانستان د خلکو دردوونکي ژوند څخه خبر او د اداري فساد ته متوجه و، وربانديې اغېزه وکړه. د خواجه او سید پېژندګلوي ډېر ژر په سیاسي ملګرتوب بدله شوه. ددې پایله دا شوه، چې دوی یو پټ ګوند د اتحاد په نوم جوړ کړ. دوی په دې فکر وو، چې تر څو چې د واکمنې کورنۍ تېل شوی واك پای ته ونه رسول شي، په افغانستان کې به هېڅ ریفورم عملي نه شي، نو ځکه یې پرېکړه وکړه، چې په هېواد کې یوه پټه سیاسي کړۍ رامنځته کړي او د ترور او کودتا په واسطه سلطنت راوپرځوي او د جمهوري دولت لپاره لاره هواره کړي.دوی د خپلو موخو د ترلاسه کولو په خاطر یو جلا او ځانګړی چلند غوره کړ، یعنې په پیل کې یې پرته د کومو تشکیلاتو، برنامې او پروګرام څخه خپل کارونه د خورو ورو غونډو او شفاهي خبرو -اترو په بڼه پر مخ بوتلل، دا ځکه که چېرې د دوی ګوند وپېژندل شي،نو دولت ته به کوم سند په لاس ورنشي. همدا رنګه دوی په دې لټه کې شول، چې هر ځای چې کوم دولت څخه ناراض سړی وي، هغه د خپلې دوستۍ په کړۍ کې راولي، په دې توګه دوی وکولای شول، چې په هرات، بلخ، غور، کابل او یو شمېر نورو ولایتونو کې یو شمېر خلك سره راټول کړي او د یوې مهمې پېښې واقع کېدو ته په تمه وي او بیا به هغه وخت په فعالیت لاس پورې کوي.

کله چې سید او خواجه کابل کې مېشت شول، خپل فعالیتونه یې په پټه توګه نور هم ګړندي کړل، چې ډېر ژر یې لاندیني کسان د خپلې مرکزي کړۍ شا و خوا راټول کړل: د شورا په اوومه دوره کې د سرخ پارسا وکیل میر اسمعیل خان، ابراهیم خان شهرستاني (په ګاو سوار سره یادېد)، نظامي کنډکمشر

قربان نظرخان ترکماني، د کابل د حربيې د ښوونځي د لوازمو مدير عبدالغياث خان کوهستاني، کنډکمشر غلام حيدرخان بيات د کابل د ماشين خانې تولي مشر محمدحسن خان بيات، محمدصفر خان بيات، ميرزاعبداللطيف خان کابلی، ميرزا محمداسلم خان د فوايد عامې مدير او څو تنه نور...

تر څو چې په پای کې دغې مرکزي کړی پربکړه وکړه، چې د ۱۳۲۹ل کال د وري د مياشتې په لومړۍ نېټه (۱۹۵۰م) به صدراعظم شاه محمودخان، چې معمولاً به يې د علي آباد د غره په لمن کې د کولبې کولو عنعنوي ميله کې ګډون کاوه او د څارويو د جګړې ننداره به يې کوله، په ګولۍ وولي، د هغه ساتونکي هم ووژني او ګوندي ټيټ رتبه افسران به د کوه دامن او کوهستان له خلکو سره، چې تيار به په کمين کې ناست وي، له څلورو خواوو څخه بريد پيل کړي، دې پسې به په يو يرغل سره د دهمزنګ لوی زندان نيسي او د يو زر او څو سوه تنو بنديانو په ګډون به د سلطنتي ارګ په لوري ورځي.

البته تر دې مهال پورې به د زرګونو تنو په ګډون يو عمومي پاڅون پيل کېږي، سلطنت به پرېوځي او جمهوريت به اعلان شي او د ګوند پلان به په همدې ځای پای ته ورسېږي، په ظاهري توګه دغه ګوند نوره راتلونکې اداره او د رغاونې چارې بل وخت ته پرېښې وې. په هر حال، د ښودل شوې ورځې او ټاکل شوې نېټې له رارسېدو څخه مخکې د ګوند د مرکزي کړی د يوه غړي (د فوايد عامې د مدير ميرزا محمداسلم خان) په سپارښت ګوند ته يو نوی غړی، چې ګلجان وردګی نوميده ور وپېژندل شو او مرکزي کړی ته يې د هغه تضمين وکړ. ګلجان د معمول په شان په قرآن باندې لوړه وکړه او ګوند ته يې خپله وفادارۍ باندې قسم وکړ او ژمنه يې وکړه، چې يوه اندازه وسله به ګوند ته چمتو کوي، دغه نوی ګوندي غړي له دې څخه مخکې خپل اته تنه شخصي دښمنان وژلي وو، نوموړی د وردګي ماهيار په کورنۍ پورې تړلی و.

په هغه شپه، چې په سبا يې نوروز و. مرکزي کړی د ميرزا محمداسلم خان په کور کې غونډه جوړه کړې وه او د سبا ورځې نقشه يې جوړه او هوکې يې ورباندې وکړه. ګلجان په دغه شپه دغې غونډې ته راغلی و او خپل دوه نور ملګري يې هم تضمين او غونډې ته يې ورو پېژندل دا يې هم وويل، چې دغه دوه تنه به ګوند ته يوه اندازه وسله ورکړي، البته د سبا ورځې د ترور له نقشې څخه ګلجان د يوه اعتباري او فعال غړي په توګه خبر و، سيد اسمعيل خان بلخي وروسته بيا کله چې له حبس څخه راخوشې شو، ما ته يې نکل کاوه، چې: لکه څرنګه چې څرګنده شوه، کله چې په هغه شپه غونډه پای ته ورسېده، ګلجان په خپله صدراعظم ته ورغلی و او ټوله قضيه يې ورته ويلې وه. سبا د لمر له راپورته کېدو څخه مخکې شاه محمود خان د مرکزي حلقې (کړی) ټول يوولس تنه غړي ونيول او زندان ته يې واچول او ټول يې د ۱۳۲۹ل کال د وري له مياشتې څخه تر ۱۳۴۳ل کال (۱۹۵۰ - ۱۹۶۴) پورې يعنې پېنځلس کاله بنديان کړل.

په دغه موده کې دغو ټولو بنديانو راز راز کړاوونه لکه کوټه قلفي، بې خوبي، د مطالعې اجباري پرېښودل او له خپلو ماشومانو او کورنۍ سره د ليدلو مخنيوی او زنځير او ولچک وګالل، خو په دغو ټولو ملګرو کې تر ټولو زيات کړاوونه ميرزا محمداسلم خان باندې تېر شول، دا ځکه چې همده ګلجان

ګوند ته راوستي و او ددغې لويې تيروتنې له کبله ډېر زيات پښېمانه و. ګلجان وردکي دولت ته ددغه خدمت په بدل کې نه يواځې دا، چې ازاد او په امن کې پاتې شو، بلکې مکافات يې هم ترلاسه کړل. خو ډېر ژوندی پاتې نه شو دا ځکه هغه د هغه خيانت له امله چې د خپل زوی له ميرمن سره يې وکړ، د خپل زوی په ګولۍ وويشتل شو او ووژل شو.

## د کابل د محصلانو ټولنه

د هغو غورځنګونو په لړکې، چې په هېواد کې راڅرګند شول، د کابل پوهنتون محصلانو هم فعاله برخه واخيسته، دوی په سياسي ګوندونو، آزادو مطبوعاتو او د پارلمان کېڼ لاس سره سياسي اړيکې ټينګې کړې او په پای کې يې په خپله د ۱۳۲۹ کال په پيل (د ۱۹۵۰ اپريل) کې د محصلانو اتحاديه (ټولنه) جوړه کړه. دا د افغانستان په تاريخ کې لومړنۍ ټولنه وه. د کابل د عالي ليسو ټول ټولګي ددغې ټولنې په خوا کې ودرېدل او زيات شمېر روڼ اندي. مبارز ځوانان، سياسي کړي او ښوونکي يې پلويان وو. دغې ټولنې خپله برنامه او پروګرام درلود، چې د مرکزي کمېټۍ او اړيکو ساتلو د کمېټو لرونکې ټولنه وه.

ددغې ټولنې د اجرائيه کمېټۍ غړي داوو: ميرعلي احمدخان شامل (نوموړی د ۱۳۲۹ کال په پای کې د محصلانو د ټولنې په لغوه کېدلو سره د حکومت له خوا له سيد محمدخان ميوند، محسن خان طاهري، حبيب خان ساپی او حيدرخان نورس سره يو ځای د تل لپاره او درې تنه نور (عظيم خان طاهري، شاه علي اکبر خان شهرستاني او اختر خان برکي) د يو کال لپاره له پوهنځيو څخه وايستل شول) مير احمدخان شامل وروسته بيا په ۱۳۳۲ کال بندي شو او تر ۱۳۴۱ل. کال پورې زندان کې پاتې شو. محمد يونس خان سرخابي (چې وروسته بيا حبس او بيا تبعيد شو). محمدنعيم خان کندهاري، اسعدخان غبار، محمدعارف خان غوثي، ببرک خان (هغه بيا له پوهنځي څخه وايستل شو او د ملي شورا د انتخاباتي مظاهرو په لړ کې ونيول شو او له ۱۳۳۱ څخه تر ۱۳۳۵ل. کال پورې بندي شو)، محمدحسن خان شرق (ببرک خان او محمدحسن خان شرق د سردار محمدداود خان د ډلې خلک وو). محمديحيی خان ابوي، حبيب خان دل، عبدالواحد خان وزيري، محمداسحق خان عثمان، هدايت خان، محمدابراهيم خان او څو تنه نور... خو ډېر ژر د محصلانو د ټولنې د اجرائيه کمېټۍ غړي په دووبرخو ښيي او کيڼ اړخونو وويشل شول، ټولنې به غونډې جوړولې، کنفرانسونه به يې جوړول او د استقلال د ليسې په سينما تياتر کې به يې انتقادي او په زړه پورې انتباهي ډرامې ښودلې، چې د طبقاتي مبارزې بڼه يې لرله. په دغو ډرامو کې به د اداري فساد ماهيت ښودل کېده، چې په ځوانانو کې يې غورځنګونه پارول.

له دې امله چې هر محصل کورنۍ درلوده، نو د دوی چلند او کړه-وړه ټولو کورنيو ته مثبت بدلون ورکړ. د کابل سپين ږيرو ښوونکو نه يواځې دا، چې دغو ځوانانو ته په همدردۍ سره کتل، بلکې په خپله هم ورسره همغږي شول، لکه مولوي عبدالظاهر يغماني، محمداسلم خان معين او داسې نور. په دې

نوګه حکومت له دغو نويو زلميانو او د دوی له سياسي غورځنګ څخه په وېره کې شو، نو ځکه يې نور دوی ته وخت ورنه کړ او دغه ټولنه يې وروسته تر اووه مياشتو څخه په ۱۹۵۰ کې له منځه يووړه.

## دملي شورا د اوومې دورې پارلماني مبارزې (۱۳۲۸ - ۱۳۳۰ يا ۱۹۴۹ - ۱۹۵۱م.)

شاه محمود خان د ۱۹۴۸م. کال په ژمي کې د اوومې دورې ملي شورا ته د آزادو او پټو انتخاباتو اعلان وکړ. د کابل او نورو ولايتونو يو شمېر روڼ اندو هم په دغو ټاکنو کې برخه واخيسته او خپل نوماندي يې هم وښودل. دولت هم خپل يو شمېر استازي مجلس ته ور واستول. په دې لړ کې د ظاهرشاه سرمنشي عبدالهادي خان داوي، چې تر دې مهال پورې يې لا خپل پخوانی ډېر ښه نوم له لاسه نه و ورکړی، د ده سبز د وکيل په توګه شورا تـه لار وموندله او ددغـه مجلس ريـيس (مشـر) شـو. پـه دې توګـه د شـورا د وکيلانو ۱۷۱ تنه په دريو ډلو کې بشپړ شول: لومړی ډله د دولت مخالف مبارز روڼ اندي، دوهمه ډله د دولت له خوا رالېږل شوي د دولت استازي او درېيم يې ناپيېلي وکيلان. په وکيلانو کې هر ډول استازي وو، لکه: لوی ځمکوال، سوداګر، روحانيون، د منځنۍ طبقې روڼ اندي، پخواني مـامورين، سيمه ييز مخور او نور...

کله، چې شورا بشپړه او د رئيسه هيئت (مشـر تابه پـلاوي) ټاکنې (ريـيس، دوه مرستيالان او يـو منشـي) پيل شوې، نو حکومت لاسوهنې وکړې او د رئيس په ټاکنه کې يې ديکته احساس شوه. له همدې وختـه وروسته د دولت او د ولسونو د استازيو تر منځ ليکې جلا شوې او ناپيېلې ډله هم جلا شوه. مبارزو روڼ اندو او د ولس استازيو په رئيسه هيئت کې د ځان له کانديد کولو څخه ډډه وکړه او رياست تـه يـواځې عبدالهادي داوي نوماند پاتې شو، په دې توګه په ليکلې بڼه په سري توګه د وټ اچولو د يـوه صندوق د ايښودلو ته اړتيا پاتې نه شوه، خو د دولت استازيو يو بل وکيل (ګلابشاه لوګري) کانديد کړ او صندوق يې کېښود. مبارزو روڼ اندو سپينې پاڼې واچولې، ګلابشاه خان يـوه رايـه وګټله، نو څرګنده خبره وه، چې عبدالهادي خان د ريـيس پـه توګـه اعـلام شـو، د شـورا لـومړی مرستيال عبدالرشيدخان او د شـورا منشي عبدالعظيم خان هم په آسانۍ سره رايې ترلاسه کړې. مبـارزو روڼ انـدو يـواځې د ويښ زلميـانو د ګوند استازي ګل پاچا الفت ته رايه ورکړه او هغه د شورا دوهم مرستيال شو.

همدا رنګه د لوړې د پر ځای کولو پر مهال (چې هغه وخت به په معموله توګه پاچا او ملت او حکومت تـه وفاداري ښودل کېده) روڼ اندو د حکومت د نوم له اخيستلو ډډه وکړه، خو يواځې يې هېواد او ملت ته د وفادارۍ څرګنده او لوړه يې وکړه. دغې پېښې د حکومتي ښې لاس او پارلماني اپوزيسيون تر منځ واټن زيات کړ، پـه ... بيا هغـه مهال چې بېلابېل کميسيونونه جوړېدل او ريېسان ټاکل کېدل او د کميسيونونو منشيان ټاکل کېدل. نو اپوزيسيون وکولای شول، چې ځانته زيات وټونه راخپل کړي او د کميسيونونو رياستونه يې ترلاسه کړل. همدغو کميسيونونو وکولای شول، چې د شورا داخلي وظايف، نوی قانون او د ټاکنو قانون په نسبتاً ديموکراتيک ډول تسويد کړي او داساسي قوانينو وضع کول، د ملکي تشکيل نوي کول، د مامورينو د دندو تفريق، د ترفيع قانون او د مامورينو د تقاعد قـانون مطرح

شول. همدا رنګه یې یو شمېر وزیران د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره احضار کړل او د هغوی خوابونه یې واورول د کمیسیونونو فعالیتونو د شورا د ډېرو غړو پلویتوب له ځان سره درلود. ډېر ژر شورا د حکومت د اعمالو تفتیش کوونکې بنه غوره کړه او د هېواد د کورني او بهرني سیاست په برخه کې مهمې فیصلې وشوې. د بېلګې په توګه کله، چې د ۱۳۳۸ل. کال د چنګاښ په لسمه نېټه باندې د پاچا په وینا سره د شورا غونډې پیل شوې، شورا خپلې پرېکړې د پاچا د وینا په محتویاتو سره څرګندې او دولتي جرایدو هغه خپرې کړې، د پاچا وینا درې ټکي لرل.

لومړی د نړۍ د نن ورځې له غوښتنو سره سم دافغانستان حکومت په خپلو پخوانیو پلانونو باندې نوی نظر کړی او شورا ته یې وړاندې کوي، او هم په بهرني سیاست کې حکومت له نورو سره متقابل احترام او یو د بل د حقونو په پام کې نیولو سره چلند کوي او په نړۍ کې د سولې د ټینګښت لپاره هلې ځلې کوي او د ملګرو ملتونو میثاق ته درناوی کویې، دریم دا چې د افغانستان د حکومت نیتونه د پاکستان له خوا ناوړه تعبیر شوي دي، نو ځکه په سیاسي او سوداګریزو چارو کې ستونزې پیدا کوي او د افغانستان پر خاوره یې هوایي تېرى کړی دی.

ملي شورا دوه لومړني ټکي ډېر په پام کې ونه نیول، خو د دریم ټکي په هکله یې خپله پرېکړه په رسمي توګه په لاندې ډول سره خپره کړه: "د افغانستان ملت د هغو خنډونو له امله، چې دپاکستان له لوري د سوداګرۍ په برخه کې رامنځته کېږي او همدا رنګه له چترال څخه تر بلوچستان پورې د افغاني سرحد او ولایتونو د آزادۍ او خپلواکۍ په برخه کې د تشکیلاتو او رایو په برخه کې د پاکسان د ممانعتونو او ستونزو له امله متاثر او متحسس دي. دافغانستان ملي شورا هېڅکله له حقوقي پلوه ځان هغو تړونونو او اقراردادونو ته پابنده او ژمنه نه بولي، چې د افغانستان دولت د پاکسان له جوړېدو څخه مخکې د پخواني هندوستان له انګلیسي دولت سره لاسلیك کړي وو. د افغانستان ملي شورا د ډیورنډ فرضي کرښه او دې ته ورته نورې کرښې له حقوقي پلوه معتبرې نه پېژني او هغه د افغانستان او اوسني پاکسان تر منځ د پولې په توګه نه مني، نو ځکه ملي شورا د پاکستان له لوري د رامنځته شویو سیاسي او سوداګریزو ستونزو په له منځه وړلو کې او د افغاني ټولو وروڼو د آزادۍ په خوندیتوب او د دوی د ملي استقلال په ترلاسه کولو کې له هېڅ ډول مرستو څخه ډډه نه کوي او له دولت سره مرستندویه ده او د نړېوال وضعیت او د وخت له غوښتنو سره سم د پالیسۍ په ټاکنه کې ورسره هر ډول هڅې او ملګرتوب کوي. همدا رنګه د افغانستان ملي شورا د پاکستان له لوري څخه د هغو ټولو زیانونو د تلافي غوښتنه کوي، چې د پاکستاني دولت د بمبارۍ له امله افغانستان ته اووښتي دي."

(و.ګ: د اصلاح او انیس ورځپاڼې: د ۱۳۲۸ل. کال د چنګاښ د میاشتې ګڼې کابل.)

له دې څخه وروسته د شورا اپوزیسیون پرېکړه وکړه، چې د مجلس د اکثریت غړو په ملاتړ د دیموکراسۍ په هکله د دولت دروغجنه ادعا باید له کښته څخه پورته خوا ته د ملت له لوري د یوه رښتیني دیموکراتیك رژیم په ټینګېدو باندې بدله شي. شورا د حکومت هغه مبهمه بودیجه، چې له شلو کلونو څخه را په دې خوا پټه ساتلې شوې وه، رابرسېره او څرګنده کړه او له دغې ډېرې بېوزلې بودیجې

Scanned by CamScanner

څخه يې چې ټوله پينځه سوه ميليونه افغانۍ وې، د اداراتو لوکس او اضافي لګښتونه راکم او د مفت خورو کورنيو مستمري معاشونه يې حذف او نور سلګونه قلم لګښتونه يې هم راکم کړل او حکومت يې د يو قطعيه حساب د نه لرلو له امله محکوم کړ. شورا د هلمند پروژه او د امريکايي موريسن کنودسن د کمپنۍ د امتياز قرارداد تر څېړنې او نيوکې لاندې راوست او د حکومت درې وزيران (د فوايد عامې وزير محمدکبيرخان لودين، د اقتصاد وزيرعبدالجميدخان زابلي او دماليې وزير ميرحيدرخان) يې په عالي ديوان کې په محاکمه کېدو باندې محکوم کړل.

همدا رنګه شورا د بيګار او اجباري کار، له بزګرانو او ځمکوالو څخه د دولت له خوا د غلې اجباري پيرودنه، ناشمېرل شويو ځارويو څخه د مالياتو اخيستلو، د وثايقو په نوم او په نورو بڼو باندې د هر ډول ناقانونه مالياتو اخيستلو په نوم اووه ګوني مواد منع او هغه يې د نه تاديه کولو ور وبلل او په کوچنيو پيشه ورانو کې سقاوانو، د حرفو په شاګردانو ماليات او د ښار په بېوزلو لاسي پلورونکو او هټيوالو باندې يې د ښاروالۍ نوې وضع شوي ماليات لغوه کړل او د دولت تعاوني ديپو يې هم وځارله او هغه يې محکومه کړه.

دا يوازې نه، بلکې شورا او د شورا کميسونونو د خپلې تقنيني درې کلنې ځارنې په ترڅ کې لسګونه اداري، اقتصادي، فرهنګي، روغتيايي او نور موضوعات مطرح کړل او ډېر رغنده نظريات يې وړاندې کړل او د حکومت نيمګړتياوې تخريبات او خيانتونه يې بربنډ کړل، آن دا چې د صدراعظم (چې د پاچا تره و) او د هغه په لاس د جوړې شوې کابينې د احضار کولو غږ په ملي شورا کې د اعتماد د رايې د اخيستو په نوم اوچت شو، په دې توګه د ارتجاع او استبداد په دستګاه کې لړزه خپره شوه.

خو آيا حکومت په څه ډول سره کولای شول، چې دې ته وګوري چې ملي شورا به د دوی کورنۍ حکومت له پښو وغورځوي او د سلطنت له پلان سره سره به د افغانستان خلك د دولت د لوټ په وړاندې پاځون وکړي؟

نو په دې مهال يې خپل يو شمېر ګومارل شوي د شورا په وړاندې راپاڅول.

د زور او تطميع، دسيسې او ګواښ په استعمال سره يې د شورا مخکنۍ پرېکړې تخريب، د اپوزيسيون مبارزين يې برباد او پښتو ولنۍ افتضاح او اختناق يې بېرته راپيل کړل. په شورا کې دننه د دولت پلويان داکسان وو: د شورا مشر عبدالهادي خان داوي، د شورا مرستيال عبدالرشيد خان الکوزی، د شورا منشي عبدالعظيم خان ساپي، د مطبوعاتو پښتو نۍ رييس (مفتي صلاح الدين خان سلجوقي) پښتونۍ حکمران سردار محمدصديق خان وزيري، محمديوسف خان اعمي سيقاني محمدعثمان خان سرخرودي، سيد عمرخان بغلاني، عبدالقيوم خان مقري، محمدکبيرخان غوربندي، سيدمحمودخان غزنوي، محمدکريم خان چهاريکاري، ګلاب شاه خان لوګري محمدشاه خان کټوازي، ابوالخير ميمنه ګي او دوی سره يو شمېر نور محافظه کار وکيلان، چې تر شا يې شاه محمودخان صدراعظم د حکومت له ځواك سره ولاړ و.

ددغه دولتي ګروپ په مقابل کې يو شمېر ملي وکيلان د يوې ملي متحدې جبهې په بڼه ولاړ وو، چې په

دوی کې لاندیني مستقل او خپلواك وکیلان او یو شمېر نور یې یو شمېر سیاسي ګوندونو پورې تړلي خلك وو: خپلواك او ناګوندي کسان دا وو: عبدالحی خان حبیبي، محمدکریم خان نزیهي، نظر محمدخان نوا، محمدقاسم خان سرپلي، محمدانورخان بګرامي ، عبدالاول خان قریشي، امیرمحمدخان سروبي، محبوب خان ننګرهاري، سیداحمدخان کوه دامني، غلام علي خان جاغوري، شیراحمدخان قره باغي، محمدنسیم خان لغماني، میرعمرخان خوست فرنګي. احمدمدني خان تاشقرغاني، عبدالحکیم خان بګرام محمدیوسف خان پغماني، محمدیونس خان کتیوازي،دراني خان کوچي، دین محمدخان، موسی خان مشرقي او یو شمېر نور له نورو ولایتونو څخه. سیاسي ګړیو پورې تړلي ډله کې لاندیني وکیلان وو. له وطن ګوند څخه میرغلام محمدغبار، سیدمحمد خان دهقان کشمي، سخي امین خان دوشي او محمدطاهرخان غزنوي.

د خلق له ګوند څخه: داکتر عبدالرحمن خان محمودي، خال محمدخان خسته او نورعلم خان مظلومیار.

د ویښ زلمیانو له ګوند څخه:ګل پاچا الفت او نور محمدخان پنجوایي.

وروسته بیا څرګنده شوه، چې د سرخ پارسا یو وکیل سیداسمعیل خان د اتحاد د ګوند غړی هم په دې ډله کې وو، چې ددغې جبهې د ټولو شمېر پنځوس تنه وو، چې د هېواد په ډېرو مهمو مسایلو کې د ملي شورا زیات شمېر وکیلان همدوی سره ولاړ وو، همدوی په رښتیا سره هم، چې د افغانستان سیاسي او کورني ژوند کې لوی بدلونونه راوستل (په همدې اړه یو شمېر بهرنیو تاریخ لیکوالو، چې له بهر څخه یې قضاوت کاوه. تیروتلي دي، نو د شورا دننه او له شورا څخه بهر یې د ګوندونو فعالیت په سم ډول نه دی لیکلی.

په هر حال، حکومت په ملي شورا کې د اپوزیسیون د فعالیتونو د شنډولو په خاطر له هېڅ ډول ګواښ، لاسوهنې او توطیې څخه لاس نه اخیست. د بېلګې په توګه د شورا د تقنینیه درې کالو په دوره کې د شورا مشرتابه په تېره بیا د شورا رییس، د کمیسیونونو او د شورا د اکثریت غړو وړاندیزونه په آجندا کې ونه نیول او په عمومي غونډو کې یې بحث وربانديې ونه کړ، دا ځکه چې په دغو وړاندیزونو کې د پخوانیو قوانینو تعدیل او د نویو قوانینو جوړول غوښتل شوي وو، د نوي قانون د پروژې د شورا داخلي دندي ۱۱۵ مادو کې د تقنین کمیسیون تسوید کړې وې او د استازیو اکثریت غړو هغه ومنلې، خو په دریو کلونو کې یې یوازې ۱۲ مادې په عمومي غونډو کې ولوستل شوې او بس. د انتخاباتو نوي قانون پروژه عمومي غونډې ته هېڅ ونه رسېدله، بلکې د مشرتابه پلاوي رد کړه. دعمومي غونډو پرېکړې، چې د رایو په اکثریت منل شوې وې (له قانون څخه بهر مالیاتو، له بزګرو او ځمکوالو څخه د اجباري غلې پیرودنه، د بیګار تحریم او په خلکو د اجباري تپل او د مصادرې منع کول او د فواید عامې، مالیې او د اقتصاد د دریو وزیرانو له دندو لرې کول او محاکمه کول او داسې نور باید د پاچا لاسلیك ته ور وړل شوي وای او د تطبیق وړ ګرځېدلي وای) د شورا د ریاست په دوسیو کې بندې شوې. د شورا مجله په دریو کلونو کې یوه ګڼه چې هغه هم تحریف شوې وه، خپره شوه د شورا رییس د حکومت ضد پرېکړې د پاچا پر ځای صدراعظم ته سپارلې او په خپله به یې د وزیرانو په غونډو کې ګډون کاوه.

Scanned by CamScanner

کله به چې په عمومي غونډو کې مهم مسايل مطرح کېدل، د اپوزيسيون له ويرې څخه به، چې اکثريت وو، پټ شو او د غونډې رياست به يې د شورا لومړی مرستيال عبدالرشيد خان ته وسپاره. هغه به د رای ورکولو د پاڼو پر ځای، د لاسونو پورته کول غوره وبلل او بيا به يې رايې نه شمېرلې او اکثريت به يې د ښي لاس په نوم ثبت کړل او آن دا، چې په پټه به يې د غونډو ليکل شوې پرېکړې بدلولې او اپوزيسيون د استازيو وينا به يې نېمګړې پرې کړه.

دا يوازې نه، بلکې د حکومت رالېږل شويو او ګمارل شويو د شورا دننه د کيڼ لاس وينا کوونکو ته سپکې سپورې ويلې او آن دا چې د پکتيا د تنيو وکيل الله ميرخان يې وهڅاوه، چې په چاقو سره د دغه کتاب په ليکوال او ډاکټر محمودي باندې بريد وکړي او د مقر وکيل عبدالقيوم خان په څوکې سره د دغه کتاب پر ليکوال (ميرغلام محمد غبار) باندې بريد وکړ. د ځاځيو وکيل ګلاجان خان خپله څوکۍ د بګراميو د وکيل محمدانورخان په تندي ورګوزار کړه او د شورا د لويو غونډو په تالار کې لاس او ګريوان جګړه پيل شوه. د حکومت ګمارل شويو يوه ورځ ماښام ډاکټر محمودي ته لاره ونيوله او د کنځلو وکولو او وهلو ډبولو په نيت يې د اندرابي په کوڅه کې ايسار کړ، بل ځل يې هغه د يوه ناروغ د کتنې په بهانه په يوه موټر کې له ښار څخه بهر بوت او د لارې په ترځ کې يې وواهه، خو ډاکټر محمودي وکولای شول، چې ځان د موټر له کړکۍ څخه بهر وغورځوي او وتښتيد. په خپله صدراعظم خپل يو شمېر پلوي او را استول شوي وکيلان لکه مفتي صلاح الدين خان سلجوقي، سردار محمدصديق خان وزيري، عبدالرشيدخان الکوزی او دوی پورې تړلې ډله د اپوزيسيون په وړاندې تر لاړښوونې لاندې ونيوله. له شورا څخه بهر د اپوزيسيون حالت تر دې هم بدتر و، د دولت جاسوسانو به په پرله پسې توګه د دوی په ضد ناروا پروپاګنډې کولې او هر يوه به يې د هيواد دښمن باله او د بهرنيو د پلويانو او خاينانو تور به يې ورباندې لګاوه. اجيرو ليکوالو او دولتي ورځپاڼو د اپوزيسيون د راهبرانو په ضد هجويه شعرونه او مقالې ليکلې او په دوی يې تورونه لګول او سپکې سپورې يې ورته ويلې. مفتي صلاح الدين سلجوقي، مولوي برهان الدين خان کشککي، عبدالصبورخان نسيمي، محمداکبرخان اعتمادي او داسې نورو د انيس د ورځپاڼې پاڼې دغه چوپړ ته ور پرېښې وې. د مطبوعاتو رييس محمدهاشم خان ميوندوال به پرته له ځنډ څخه ګوندي جرايد (انګار، وطن او ندای خلق) پرته له تحقيق او محاکمې څخه جريمه او مصادره کولې، تر څو چې ټولې يې توقيف کړې.

د اپوزيسيون په وړاندې دغه فشار دومره زيات شو، چې يو شمېر مبارز وکيلان له اپوزيسيون څخه جلا شول او له ناپېيلو وکيلانو سره يو ځای شول او په دې توګه يې ځانونه له راتلونکي حتمي خطر څخه خلاص کړل. همدا رنګه عبدالحی خان حبيبي تر دومره فشار لاندې راوستل شو، چې د شورا د دورې له پای ته رسېدلو څخه مخکې له افغانستان څخه وتښتيد او پاکستان کې يې پناه واخيسته. وروسته تر څو کلونو څخه بېرته افغانستان ته راستون او د ليکوالو په ډله کې په کار بوخت شو.

دولت د شورا له پای ته رسېدلو څخه وروسته زه (ميرغلام محمد غبار) او ډاکترمحمودي زندان کې واچولو، د سيدمحمد دهقان په وړاندې يې يوه فرمايشي دعوا جوړه کړه او ډېره موده يې د بلخ او

بدخشان په محکمو کې سرګردانه او بوخت کړ تر څو یې، چې د هغه ځمکې په زور سره واخیستې او په خپله یې د سیاست له ډګر څخه ورک کړ. نورعلم خان مظلومیار یې له خپل ټاټوبي میدان څخه تالقان ته تبعید کړ او کلونه کلونه یې هلته وساته محمد طاهر خان غزنوي یې توقیف او له دندې وشاړه او خال محمد خسته یې په پاخه عمر د عسکرۍ فرمایشي پچه کې راوست. همدا رنګه دولت د اپوزیسیون نور مخکښان په بېلا بېلو بڼو په کابل او نورو سیمو کې تر فشار لاندې راوستل او د شورا په اتمه دوره کې یې د کاندید کېدو مخه ونیوله. دغه ډول بېلابېل فشارونه نه یواځې دا چې په ټولو مبارزینو تطبیق شول، بلکې د دوی په کورنیو هم جبر او ظلم زیات شو«د بېلګې په توګه، وروسته تر دې چې زه یې بندي کړم، زما لورګانې او زامن یې له پوهنځي او ښوونځیو څخه وایستل او زما ورونه یې اجباري تقاعد ته سوق کړل».

د دوی پر ځای دولت ارتجاعي مخکښ او د دولت ګومارل شوي کسانو ته مکافات ورکړل، عبدالهادي خان داوي او مفتي صلاح الدین خان سلجوقي په مصر او اندونیزیا کې د افغاني سفیرانو په توګه وګومارل شول، سردار محمدصدیق خان وزیري او محمدکریم خان فروتن په ولایتونو کې والیان شول، محمدعثمان خان سرخرودی حکمران شو ، عبدالرشید خان الکوزی د اتمې دورې د شورا رییس شو پاتې نوره ډله یو ځل بیا په تپل شوي او فرمایشي وکالت سره شورا ته ننوتل. له دې څخه وروسته کلونه کلونه ملي شورا د حکومت د یوې انتصاب شوې ډلې په قالب کې منسوخه او بېرته هماغه پخوانۍ کیسه روانه شوه.

## د کابل انتخابي ښاروالي

د اوومې دورې له ملي شورا څخه یو کال مخکې د کابل ښاروالي په انتخابي بڼه جوړه شوه. د ښاروالي په آزادو ټاکنو کې یو شمېر روڼ اندي کاندید او وټاکل شول او یو شمېر نورو د ښار په بېلا بېلو غونډو کې ویناوې وکړې. د لومړي ځل لپاره په کابل کې یو غورځنګ پیل شو. روښانې او منورې ډلې د ښاروالي اداري او اجرائیوي چارې د ټاکنو له طریقه ترلاسه کړې لکه غلام محمدخان فرهاد د ښاروالۍ رییس شو. میرمحمدصدیق خان فرهنګ او داکتر عبدالله خان واحدي یې مرستیالان شول، محمدحسین خان نهضت یې منشي او سرورخان جویا ، محمداصف آهنګ ، شیرمحمدخان آسیابان او نور یې غړي شول. دوی وکولای شول، چې ډېر ژر د کابل ښاروالي ته نوې بڼه ورکړي. د ښاروالي بودیجه، ښاري ناحیې، او دفترونه یې تنظیم کړل، واټونه یې پاخه کړل،نوي بڼونه او میني یې جوړې کړې. د میوند او نادر پښتون نوې جادې یې جوړې کړې. پامیر سینما یې ودانه کړه او د ښاروالۍ یوه مجله یې هم خپره کړه. په دې ډول سره د کابل انتخابي ښاروالي ډېر ژر د خلکو پام ځانته واړاوه او خلکو کې یې خپل اعتبار ترلاسه کړ.

نور نو څوك نه و، چې په دې باندې ونه پوهېږي، چې د خلکو له خوا ټاکل شوې ښاروالۍ د پخواني د دولت له خوا د انتصاب شوې ښاروالۍ په پرتله غوره او اوچته نه ده. البته دغو چارو د حکومت له

نهايي موخو سره پوره اړخ نه لګاوه، نو ځکه یې د حکومتي عمالو په لاس د ښاروالي په چارو کې سپوتاژ او خنډونه رامنځته کړل، وروسته حکومت بېرته دغه موسسه په انتصابي ښاروالی بدله کړه او ډېر کلونه یې خپل واک لاندې وساتله.

## د کابل په ښار کې انتخاباتي تظاهرات

د ۱۳۳۰ل کال په پای کې د اوومې شورا درې کلنه دوره پای ته ورسېده او د ۱۳۳۱ل کال د ورې د ۳۱مه ورځ (د ۱۹۵۲م په اپریل) کې نوې ټاکنې اعلان شوې، د شاه محمود حکومت چې تر میاشتې په دې مهال پورې ټول سیاسي غورځنګونه، ګوندونه، د محصلانو ټولنه او آزاد جراید د اوومې شورا له فعالیتونه سره یو ځای غلي او ځپلي وو. پرېکړه یې کړې وه، چې همدا اختناق په کلکه سره وساتي دا، ځکه چې واکمنې کورنۍ نه غوښتل چې هغه ریفورمونه چې د وخت او زمان جبر او د کورني او بهرنی سیاست وضعیت پر دوی منلی او تپلی وو، د هغو تر اغېزې لاندې هغه سیاسي غورځنګونه، چې د خلکو له خوا را اوچت شوي وو عملي کړي، بلکې دغې کورنۍ غوښتل چې خلك او د خلکو استازي د زور په کارولو سره پخواني حالت ته ور وګرځوي او بیا د ریفورمونو یوه برخه چې د واکمنې کورنۍ له ګټو سره ډېر تضاد ونه لري، له پورته خوا ځخه او په خپل لاس عملي کړي، نو په دې ډول سره د ټولو نویو غورځنګونو د ځپلو دنده صدراعظم شاه محمودخان ته وسپارل شوه او سلطنت وغوښتل چې د هر اصلاحي عمل نوښت په خپل لاس کې ولري.

کله چې شاه محمود د ټولو سیاسي غورځنګونو له ټکولو څخه وزګار شو، د اتمې دورې د شورا د آزادو ټاکنو د مخنیوي لپاره یې خپلو چارواکو ته امر وکړ، چې د کېن لاسو روڼ اندو ټاکل کېدو مخه دې ونیول شي حال دا، چې د اوومې شورا د اپوزیسیون یو شمېر وکیلانو ځانونه یو ځل بیا د نوماندو په توګه اعلان کړي وو، چې په دوی کې زه (میرغلام محمدغبار) او ډاکتر عبدالرحمن محمودي د کابل له ښار څخه د نوماندو په ډله کې وو. همداسې هم سیدمحمدخان دهقان، خال محمد خسته، نظر محمدخان نوا، نورعلم خان میداني او څو تنه نور په نورو ولایتونو کې د نوماندو په توګه وو. په ټاکنو کې د حکومت لاسوهنې نور نو دپټېدو نه وې او په څرګند ډول سره په شرموونکې بڼه ډګر ته راوتلې و په پلازمینه کابل کې د پولیسو سپاره ټولي او ژاندارم ګرځېدل. زما او د ډاکتر محمودي وټ اچوونکي له انتخاباتي حوزو څخه وشړل شول، د حکومت له لوري ټاکل شویو مامورینو او قاضیانو په څرګنده توګه د محمودي او غبار وټونه د رای ورکولو په دفترونو کې د حکومت د کاندیدانو په لست کې ور اچول، دا ځکه چې د ټاکنو د ګډون کوونکو لپاره د پاڼې د اچولو په خاطر بل کوم صندوق نه و ایښودل شوی اعتراض کوونکي د کابل د والي عبدالحکیم خان شاه عالمي په امر د پولیسو په کوتکونو سره له حوزو څخه شړل کېدل مقاومت کوونکي زندان ته استول کېدل، د بېلګې په توګه غلام دستګیرخان د ارګ پخواني قلعدار چې یو روښانه سړی او سیاسي بند یې تېر کړی و، د پولیسو په کوتکونو وشړل شو او کندکمشر دادمحمدخان، چې په (لنډي) باندې مشهور و او د خپلواکۍ د جګړې یو غازي و په محبس کې واچول شو او تر هغه پورې هلته و تر څو چې د همدې کال په مرغومي میاشت کې د دهمزنګ په محبس کې ناروغ او پرته له طبیب او درملو څخه یې له ژوند سره مخه ښه وکړه. یو شمېر نور یې د

شیرپور د پولیسو د ماموریت په انګړ کې توقیف کړل.
په دې ډول سره د حکومت د استبدادي چلند په وړاندې د خلکو غبرګون پیل شو. لومړی خلکو له ټاکنو سره پرېکون وکړ او له انتخاباتي حوزو څخه ووتل. دې پسې وروسته یې د زرګونو هټېوالو، مامورینو، پیشه ورانو، د پوهنتون د محصلانو، د ښوونځیو د زده کوونکو او د وطن او خلق ګوند د زرګونو پلویانو په ګډون ډېرې سترې او بې مثاله مظاهرې له خپلو کاندیدانو سره پیل کړې. دوی ځان سره هغه شعارونه لرل، چې ورباندې لیکلي و «وکلای ملي، غبار و محمودي». په هره څلور لارې کې به ویناوې کېدې او د حکومت لاسوهنه به غندل کېده. مظاهره کوونکي د ښار له لویو جادو څخه تېر شول او له غرمې څخه وروسته د سلطنتي ارګ خوا ته روان شول په داسې حال کې، چې د دولت سپاره کنډکونه ګام په ګام ورسره روان وو. دا هغه لومړنۍ سیاسي مظاهره وه، چې په خپله پاچا یې مخاطب کړی و او د هغه په کابینه یې لعنت وایه.
سلطنت د شاهي ارګ د جادې دواړه اړخونه په پیاده نظام عسکرو ټینګ کړي وو او د ارګ لویه دروازه یې په نظامي موټرو باندې بنده کړې وه او د دروازې په بام باندې یې د ماشیندارو وسلې ایښې وې (وروسته یې بیا د ارګ ټول دیوالونه او برجونه له تیرو څخه جوړ کړل). د ارګ د دروازې مخامخ د دولتي عسکرو تر مخې د حکومت په ضد د خلکو د کاندیدانو له خوا ډېرې کلکې او سختې ویناګانې وشوې. د ارګ ساتونکو افسرانو د خلکو لیکلي هغه وړاندیز ترلاسه کړ، چې په هغه کې خلکو حکومت محکوم کړی و او د انتخاباتو بیا ترسره کېدل یې غوښتي وو، خو هغوی د پاچا له لوري دا ځواب ورکړ، چې سبا ته به د پاچا نظر خلکو ته واورول شي خلکو همالته د ارګ تر مخې پرېکړه وکړه، چې سبا ته به د پاچا د ځواب د ترلاسه کولو په خاطر د استقلال لیسې په پراخه ډګر کې راټولېږي، په دې توګه دغه مظاهرې د لنډ وخت لپاره پای ته ورسېدې، خو په هماغه شپه یې د استقلال د لیسې انګړ ټول له اوبو ډک کړی و (چې دغه لیسه د ارګ تر څنګ ده) او کابل راډیو په رسمي توګه خلکو ته اخطار ورکړ، چې له سر سبا څخه هر ډول غونډې جوړول د قانون خلاف او منع دي. مخالفت کوونکي به تعقیب شي. دې پسې وروسته نظامي ټولګي له زغره والو وسایطو سره یو ځای د کابل ښار جادو ته راووتل او تر یوې شپې او ورځې پورې همدا حال و. په هغه سبا باندې دولتي جراېدو د جعلي ټاکنو پایلې، چې په هغه کې پرون ترسره شوې وې اعلان کړې، په هغو کې یواځې اووه زره او درې سوه او اتیا تنو ګډون کړی و. دا ځکه چې د کابل ښار نورو رایې ورکوونکو پرېکون کړی و، حال دا چې له دې څخه درې کاله مخکې د اوومې دورې په ټاکنو کې په صندوقونو کې له پنځوس زرو څخه زیات وټونه اچول شوي وو، چې په هغو کې ۲۸ زره زما (میر غلام محمد غبار) او ډاکتر محمودي پانې وې.
خو دا ځل د دولت دواړو کاندیدانو یواځې څلور زره او اووه سوه اته نوي تېل شوي وټونه ترلاسه کړي وو.
دا یواځې نه، بلکې حکومت تر مظاهرو څخه وروسته د خلق او وطن ګوند د اجرائیه هیئت کورونه او د دوی تګ-راتګ تر ښکاره څارنې لاندې ونیول او په بایسکل باندې سپرو پولیسو او په موټرو باندې سپرو افسرانو به دوی څارل او تر اوولسو ورځو څخه وروسته د وطن ګوند څوارلس تنه او د خلق ګوند شپږ تنه زندان ته واچول شول. چې هر یو یې پرته له تحقیقاتو او محاکمې څخه له یو کال څخه نیولې تر څلورو کلونو پورې او ځینې یې تر یوولسو کلونو پورې بندي وساتل شول.

## په هېواد کې ددغو سیاسي غورځنګونو اغېزې

له دې ټولو سره سره د سیاسي ګوندونو، ګوندي جریدو، د محصلانو د ټولنې، پارلماني اپوزیسیون او انتخاباتي مظاهرو په څو لږ شمېر کلونو کې کې له ۱۳۲۲ څخه تر ۱۳۳۰ل. پورې (۱۹۴۷ - ۱۹۵۱) د افغانستان د خلکو په ذهنونو، سیاسي رژیم او د هېواد په ټولنیز او اقتصادي سیستم باندې ډېره ژوره اغېزه وکړه، په هېواد کې د دیموکراسي او آزادۍ غوښتنې د همدغو اغېزو له امله پراخه شوې همدا رنګه په عامه ژوند کې دیموکراسي او ملي قوتونه فعاله شول، په ټولنیزو اړیکو کې نوي افکا، خپاره او د روڼ اندو په منځ کې بېلابېل ایدیالوژۍ او نوې معاصرې مفکورې مطرح شوې، په دې توګه د افغانستان په کورني سیاسي ژوند کې یو ډول بدلون راغی. دغه بدلون یوازې په پلازمینې پورې تړلی پاتې نه شو، بلکې وړانګې یې تر ډېرو لرې پورې د هېواد بېلابېلو ولایتونو پورې ورسېدې.

په افغانستان کې دغه سیاسي غورځنګ د هېواد د واکمنې کورنۍ د سیاسي انحصار امتیاز پرېښودل او د لویو پانګوالو د اقتصادي انحصار د امتیاز له منځه وړل وو. د الیګارشي او اریستو کراسي رژیمونو له منځه تګ او د آزادي او عمومي عدالت غوښتنه یې کوله. دغه غورځنګ د بزګرانو، پیشه ورانو کارګرانو او ټیټ رتبه مامورینو له ګټو څخه خبرې کولې او په بهرني سیاست کې یې د هېواد د مثبت ناپېیلتوب شعار وړاندې کړی و. په دې لړ کې یې د لومړي ځل لپاره وطن جریدې د درېیمې نړۍ له پیاوړي کېدو او د فعاله ناپېیلتوب سیاست خبره یاده کړه، سره له دې چې سلطنت دغه ټول غورځنګونه له منځه یوووړل، خو ونه توانېد، چې د هغو اغېزې له افغاني ټولنې څخه ښخي له منځه یوسي او هېواد پخواني جامد او بشپړ ساکت حالت ته ور وګرځوي په دې توګه شاه محمود خان د تل لپاره راوپرځېد.

په هر حال، شاه محمود خان، چې د ریفورم اصلاحاتو او نوې اداري په برخه کې ماتې وخوړه، په ۱۳۳۲ل. (د ۱۹۵۳ په سپتمبر) کې استعفا ته وګومارل شو.

شپږ کاله وروسته (د ۱۳۳۸ل. کال د مرغومې په درېیمه- ۱۹۵۹م) کې د زړه د ناروغۍ له امله په بغلان کې ومړ او څه یې، چې ګټلي وو، خو نه یې و خوړلي هغه ټول دده یو کتار میراث خورانو ته ورڅخه پاتې شول.

د افغانستان تاریخ د کورنۍ د حکمراني په نورو شلو کلونو کې (له ۱۳۳۲ څخه تر ۱۳۵۲ یا له ۱۹۵۳- ۱۹۷۳ پورې) لیکلو ته یو بل جلا ټوك غواړي، چې باید ولیکل شي. دلته به یوازې دومره ووایو، چې: د سردا شاه محمود خان له راپرځېدو څخه وروسته (چې د افغانستان د پاچا ظاهرشاه تره و) د ظاهرشاه د تره د زوی محمدداودخان کابینه جوړه شوه (په ۱۹۵۳م. کې) په دغه دوره کې نو نور د دیموکراسۍ نوم هم پاتې نه شو او سلطنتي رژیم او پخوانی نظامي حکومت بېرته ټینګ شو، چې هېڅ هم آزاد نفس نه شو ایستلای.

په ۱۹۶۳م. کال کې د محمدداود خان د صدارت له راپرځېدو څخه وروسته د دولت له خوا څخه (د پورته لوري څخه) یوه (دیموکراسي) اعلان شوه، چې حکومتي چارواکو به کله ورته (افغاني اسلامي دیموکراسي) او کله (تاجداره دیموکراسي) بلله، خو یو شمېر نورو بیا هغه قلابي دیموکراسي ونوموله. په دې ترځ کې دولت پورې یو شمېر تړلي ساختګي ګوندونه د سوسیالیزم د شعارونو په لړلو سره

بې اغېزه کولو لپاره ملا وتړله.

په هر حال، دا د خبرې برسېرن اړخ و، خو په باطن کې هماغه پخوانۍ اریستوکراسي او د سلطنتي کورنۍ خودمختاري په خپل ځای پاتې وه، حال دا چې ددغې دورې صدراعظمان د شاهي کورنۍ پخواني خدمتګاران و، چې هر یو یې څو څو ځله په بېلابېلو استبدادي دورو کې وزیران او سفیران وو، لکه محمدیوسف خان، محمدهاشم خان میوندوال، نور احمد اعتمادي، ډاکتر عبدالظاهرخان او موسی شفیق.

ددغې نمایشي دیموکراسي دورې له پای ته رسېدلو څخه وروسته، چې موخه یې په افغانستان کې د دیموکراسۍ ناکامي او بدنامه کول و، بیا هم د شاهي کورنۍ یو تن (محمد داود خان د ظاهرشاه د تره زوی) جمهوري نظام هم له پورته څخه اعلان کړ (۱۹۷۳م.) او پخوانۍ ډېر کلك استبداد یې یو ځل بیا را برسېره کړ او ددغه کتاب تر لیکلو پورې ددغه هېواد برخلیك لکه د پخوا په شان مبهم، مظلم او مجهول دی.

**ددغه کتاب پای**

**۱۹۷۳ میلادي، کابل ښار**

**م.غبار**

Scanned by CamScanner

# ښلونې

## لومړی
## د میرغلام محمدغبار لنډي سوانح او آثار
### الف– د غبار لنډ ژوند لیک (سوانح)

میرغلام محمدغبار د میرزا میرمحبوب خان زوی و، چې په ۱۲۷۷ل. (۱۸۹۸م) کال کې یې په کابل ښار کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي. زده کړې یې په خصوصي توګه ترسره کړې او مطالعات یې زیاتره د تاریخ، ادب، فلسفې او اجتماعیاتو په برخه کې وو. د ځوانۍ د عمر کلونه یې له هغه مهال سره برابر وو، چې په افغانستان کې ورو ورو د ټولنیزو بدلونونو پیلامه په راځرګندېدو وه. په کابل کې د جریدې نشرېدل پیل شوي و، شخصي کتابتونونه موجود و او د روڼ اندو څرګندې او ناڅرګندې کړۍ راپیدا شوې وې. دې پسې وروسته په هېواد کې یو خوځنده ټولنیز بدلون او سیاسي انقلاب پېښ شو، چې په پایله کې یې افغانستان له انګرېزانو سره په درېیمه جګړه کې بریالی شو. دغه ټولې پېښې ددې لامل شوې، چې د هېواد د ځوان نسل ټولنیزو غورځنګونو ته یوه مساعده فضا رامنځته شي، سره له دې چې دا یوه ډېره لنډه او ګړندۍ دوره وه، چې ایله لس کاله عمر یې درلود.
ددغو پېښو په ترڅ کې غبار لاندې دندې او بوختیاوې لرلې:

### په امانیه دوره کې

- د (ستاره افغان) د اوونیزې جریدې مدیریت: د ۱۲۹۸ل. کال له ژمي څخه د ۱۲۹۹ل. کال (۱۹۱۹-۱۹۲۰) تر اوړي پورې (دغه جریده په دوو پاڼو کې خپرېده، چې انتقادي او اصلاحي بڼه یې لرله اول د جبل السراج په سنګي مطبعه کې او بیا وروسته د پروان ولایت په چاریکارو کې چاپ او خپرېده.)
- د عمومي امنیت د وزارت د یوې څانګې ریاست: له ۱۲۹۹- ۱۳۰۰ (۱۹۲۰- ۱۹۲۱).
- د هرات ولایت د تنظیمیه هیئت غړیتوب: ۱۳۰۰ (۱۹۲۱).
- د امانیه شرکت د تصدي مرستیال او د مسکو په نندارتون کې د تجارتي تصدي استازیتوب ۱۳۰۳ (۱۹۲۴).

Scanned by CamScanner

•- په پاریس کې د افغانستان د مختار وزارت کاتب ۱۳۰۵ (۱۹۲۲).
•- د قطغن او بدخشان ولایتونو د ګمرکاتو مدیر ۱۳۰۲ (۱۹۲۷).
•- د پغمان په لویې جرګې کې د کابل ښاریانو انتخابي وکالت ۱۳۰۷ (۱۹۲۸).

## د نادرشاه د کورنۍ د واکمنۍ پر مهال

•- په برلین کې د افغانستان د مختار وزارت سرکاتب ۱۳۰۹ (۱۹۳۰) غبار له دغې دندې څخه استعفا وکړه او افغانستان ته راستون شو، تر څو د نادرشاه د استبداد په وړاندې په مبارزه کې په سیده توګه برخه واخلي.

•- د کابل د ادبي ټولنې غړیتوب ۱۳۱۰- ۱۳۱۱ (۱۹۳۱- ۱۹۳۲).

•- سیاسي بندي ۱۳۱۲- ۱۳۱۴ (۱۹۳۳- ۱۹۳۵)، (د محمد عظیم خان په نوم د یو افغان په لاس په کابل کې د انګلیس دولت په سفارتخانه کې د ترور په پېښه کې غبار هم بندي شو، چې په دغه پېښه کې د دغه سفارت درې کار کوونکي ووژل شول).

•- سیاسي تبعید: د مخکې پېښې له امله په فراه او کندهار ولایتونو کې:
۱۳۱۲-۱۳۲۴ (۱۹۳۵- ۱۹۴۲).

•- په کابل کې د تاریخ د ټولنې غړیتوب: ۱۳۲۲- ۱۳۲۷ (۱۹۴۳- ۱۹۵۱).

•- د ملي شورا په اوومه دوره کې د کابل د ښاریانو انتخابي استازی ۱۳۲۸- ۱۳۳۰ (۱۹۴۹- ۱۹۵۱).

•- د وطن ګوند موسس او منشي او د ګوند د خپرنې ارګان وطن جریدې د امتیاز خاوند (۱۳۲۹- ۱۳۳۰ (۱۹۵۱- ۱۹۵۲).

(د وطن جریده په څلورو پاڼو کې په انتقادي لیکنو سره په ملي مطبعه کې د ګستتند په بڼه کې چاپ کېدله. خو په ۱۳۳۰ (۱۹۵۱) کال کې د حکومت له خوا توقیف شوه او د وطن ګوند په ۱۳۳۱ (۱۹۵۲) کې د حکومت له لوري ممنوع اعلان شو او وروسته بیا په ۱۳۳۵ (۱۹۵۲) کې یې انحلال په رسمي توګه د حکومت له خوا اعلان شول).

سیاسي بند ۱۳۳۱- ۱۳۳۵ (۱۹۵۲- ۱۹۵۶)

(له یو شمېر ګوندي ملګرو سره د انتخاباتي مظاهرې د رهبرۍ په تور بند)

شل کاله نور له ۱۳۳۵- ۱۳۵۲ (۱۹۵۶- ۱۹۷۸) پورې غبار، د یوه وطنپال، آزادۍ غوښتونکي مبارز، ورځپاڼه لیکونکي، لیکوال او مؤرخ په توګه د واکمنې کورنۍ د فشار او څارنې له امله اړ شو، چې په خپل کور کې په سیاسي فعالیتونو، مطالعې او تالیف باندې تېر کړي (غبار همدا مهال د افغانستان در مسیر تاریخ کتاب ولیک). د دغې مودې په ترڅ کې دولت په بېلا بېلو وسایلو سره د غبار له خوا د مقالې، کتاب او جریدې د خپرولو مخنیوی کاوه (حکومت په همدغه دوره کې د افغانستان در مسیر تاریخ لومړی ټوک توقیف کړ) او همدا راز یې (د دولتي دیموکراسۍ) په دوهمه دوره کې شورا ته د غبار

Scanned by CamScanner

له نوماندوالي څخه مخنیوی وکړ.
وفات: د ۱۳۵۷ل. کال د سلواغې ۱۲مه (د ۱۹۷۸ د فبروري پېنځمه) د شوروي اتحاد د لاسپوڅي رژیم په کودتا سره د واکمنې کورنۍ د دولت د راپرځولو څخه یواځې څو میاشتې مخکې، میرغلام محمدغبار، چې د معدې د ناروغۍ د درملنې په خاطر لویدیځ برلین ته تللی و، هلته یې په روغتون کې له نړۍ څخه سترګې پټې او وروسته بیا په خپله پلرنۍ هدیره کې په کابل کې په شهدای صالحین کې خاورو ته وسپارل شو (انا لله وانا الیه راجعون).
غبار له وفات څخه مخکې وصیت کړی و، چې دده د شخصي کتابتون څو سوه ډېر کمیاب کتابونه دې د افغانستان یوه عامه کتابتون ته ورکړل شي. دده له وفات څخه وروسته دده دغه توصیه عملي شوه او دغه کتابونه د کابل عامه کتابتون ته اهداء شول. غبار په خپل وصیت لیك کې دا هم لیکلي و، چې: "زه خپلو اولادونو ته توحید باالله نعمت همنوعان او بېوزلو سره د شفقت او هغوی ته د خدمت توفیق غوارم چې پایله به یې د وجدان او ضمیر هوساینه او ژوند او مرګ ته خوشبیني ده."
غبار د انسان په رنځونو، په تیره بیا د بېوزلو په رنځ ډېر ځورید، د بېلګې په توګه کله چې زه (حشمت خلیل غبار) کوچنی هلك وم، زما په یادېږي چې یوه ورځ ژمی چې سخته واوره ورېدله، له خپل پلار (میر غلام محمد غبار سره یو ځای د کابل د ولایت په جاده کې روان وم، پلار مې زما لاس نیولی و، د یوه دیوال اړخ ته مو یو بوډا ولید، چې له یخنۍ څخه رېږدید، د هغه له درونند نظر څخه د غم او خواشینۍ نښې له ورایه ښکارېدې. ددغه سړي په غاړه کې یواځې یو زوړ کمیس او پرتوګ و، زما پلار خپل بالاپوش وکیښ او هغه بوډا ته یې ورکړ، په خپله یې ټول ژمی بې بالاپوشه تېر کړ، دا ځکه چې همدا زما د پلار یواځینی بالاپوش و او د بل بالاپوش د پیرودلو وس یې نه درلود، زما د پلار دغه چلند دژمي د هغې ورځې د واورو شاته د نورو خلکو له نظر څخه پټ و، خو ما له نږدې څخه د هغه د بشر پالنې دغه ژور احساس ولید.
غبار په خپل وروستي یادداشت کې خپلو اولادونو ته دبېوزلو لپاره د خدمت کولو توصیه کړې وه، خپله یې هم په خپل ژوند کې بېوزلو ته خدمت کول خپله پېشه ګرځولې وه، خپل عمر یې په همدې لاره کې تېر کړ، هغه هېڅکله د ظالم، ګواښ او دمرګ د خطر په وړاندې حکومت ته تسلیم نه شو آن دا، چې له محبس او تبعیذ ځای څخه یې د عریضې په توګه کومه پرزه هم حکومت ته وړاندې نه کړه. واکمنه کورنۍ چې د زنځیر، زولنو او زندان په وسیله د غبار په ماتولو کې ناکامه پاتې شوه، عصباني شوه او د خپلو مخبرینو په واسطه یې د غبار په ضد پراخه ناوړه تبلیغات وکړل. کله چې حکومت د محمدداود خان له صدارت څخه وروسته (له پورته څخه د دیموکراسۍ) دوهمه دوره اعلان کړه او په زور او توطیې سره یې د کابل له ښار څخه د وکیل په توګه د غبار د نوماند کېدو مخه ونیوله، د حکومت له عمالو څخه یوه تن په زینب ننداري کې د کابل ښاریانو په هغه غونډه کې چې هلته غبار وینا کوله، په اشارې سره وویل چې ګواکې له محبس څخه د غبار راخوشې کېدل له حکومت سره د هغه د پخلاینې او روغې-جوړې یوه نښه ده. غبار یې په ځواب کې وویل: "استبدادي حکومت د مبارزینو په وړاندې له ناځوانۍ

Scanned by CamScanner

څخه له ډکو تبلیغاتو او دسایسو څخه ډډه نه کوي، د زندان کونجي د حکومت په لاس کې ده او په دسیسې سره چې کله وغواړي هر څوك هم خوشې کولای شي او هم يې هلته ساتلای شي. خو زه همدلته چې د دولت يو شمېر عمال هم شته، دولت ته چلنج ورکوم او په واز کومي وایم چې که زما د سیاسي ژوند په ټول بهیر کې کوم سازش او د تسلیمۍ په اړه کومه کوچنۍ پرزه او ټوټه هم له تاسې سره وي، راښکاره يې کړئ، چې ټول ورباندې خبر شي. دوی کومه ټوټه سند نه لري، خو زه به د افغانستان د خلکو ربنتینی تاریخ ولیکم او په اسنادو سره به د استبدادي حکومتونو او د دوی اړوند کسانو خیانت څرګند کړم.

غبار دغه ژمنه ترسره کړه او د افغانستان در مسیر تاریخ د کتاب په لیکلو یې پیل وکړ.

غبار په ربنتینولۍ سره او د هغه صداقت له مخې چې د بشریت او خلکو په وړاندې يې درلود، د واکمنې کورنۍ د واك پر مهال تل هسکه غاړه او په مېړانې سره پرته له کومې ویرې حقایق بیان کړل او هغه یې لیکل.

د واکمنې کورنۍ د واك پر مهال د افغانستان در مسیر تاریخ د کتاب لیکل د همدې واقعیت ښودونکې ده، د بېلګې په توګه د افغانستان دوو تنو ډېرو مستبدو او خطرناکو واکمنانو لومړی نادرشاه او بیا وروسته صدراعظم محمدداود خان له غبار څخه غوښتنه وکړه او هغه ته یې بلنه ورکړه (و. ګ: د افغانستان در مسیر دوهم ټوك) چې د دوی له استبدادي حکومتونو سره همکاري وکړي، غبار د مرګ او د کلونو کلونو حبس او تبعید د خطر په منلو سره دغه بلنه چې د افغانستان د خلکو د ګټو پر خلاف وه، ونه منله. حال دا، چې داسې کسان هم وو، چې د مستبدینو د تهدیداتو په وړاندې يې مقاومت ونشو کولای او له ویرې څخه تسلیم شول (د بېلګې په توګه میرمحمدصدیق فرهنګ د صدراعظم محمدداود خان په ګواښ سره خپله لیکه بدله کړه او د څو کلونو په ترڅ کې یې د يو شمېر لوړو دریځونو لکه د وزارت د مرستیالي او په یوګوسلاویا کې د سفارت په منلو سره ورو ورو خان د واکمنې کورنۍ غېږې ته واچاوه او وروسته بیا هغه وخت چې ببرك کارمل د نیواکګرو د بې رحمه توپ او ټوپك لرونکو ځواکونو سره یو ځای په کابل کې د شوروي د لاسپوڅي رژیم په سر کې په تخت کښېناست، بیا هم میرمحمدصدیق فرهنګ مقاومت ونه کړ او د ببرك کارمل د رسمي مشاور په توګه په دغې خونړۍ توره دوره کې دنده ترسره کړه)

دغه شمېر خلك د خپلو شخصي ګټو او مستبدو واکمنو د نظر د را اړولو په خاطر د مادي امتیازاتو په وړاندې لکه د واکمنې کورنۍ سفارت او وزارت او د بهرنیو نیواکګرو لاسپوڅو د مشاوریت په منلو سره له حقانیت او د خلکو له لارې څخه کاږه شول او وروسته یې بیا د خپل دغه چلند د سم ښودلو په خاطر په مبارزینو او وطنپالو پورې تورونه وتړل.

د واکمنې کورنۍ پر مهال د مستبدانو چوپړیانو غوړه مالي کول او د هېواد تاریخ یې تحریف کړ او د واکمنې کورنۍ له راپرځېدو وروسته یو ناڅاپه یو سلو اتیا درجې بدل شول او (بافرهنګه) شول او اقتباسي تاریخ او تحریف شوي خاطرات يې ولیکل، چې له درواغو ډك وو، خو دا ځل يې مستبدینو ته

Scanned by CamScanner

د خپلو چوپړونو ددورې پېښې تحریف کړې (د بېلګې په توګه سیدقاسم رښتیا، چې د واکمنې کورنۍ د واك پر مهال څو څو ځله رییس وزیر او سفیر و، تر هغه بریده پورې یې دغو مقاماتو او دریځونو سره عادت نیولی و او هغه ورته ډېر ګران وو، چې د واکمنې کورنۍ له راپرځېدو څخه وروسته او په کابل کې د شوروي د لاسپوڅي رژیم له راتګ سره سم یې د افغانستان ګټو ته هېڅ پاملرنه هم ونه کړه. بلکې هڅې یې وکړې، چې په دغه نوي رژیم کې هم یو دریځ ولري، نو ځکه یې دغه رژیم ته هم خوشامندي پیل کړه.

د بېلګې په توګه په هغه یوه تلویزیوني غونډه کې، چې لاسپوڅي رژیم د پخوانۍ واکمنې کورنۍ په ضد جوړه کړې وه، سیدقاسم رښتیا د نورمحمد تره کي او د هغه د رژیم د شوروي پلویانو د نظر د را اړولو په خاطر خپلو پخوانیو ولي نعمتانو پسې چې پوره نیمه پېړۍ یې هغوی د (اعلیحضرت) او (والا حضرت) په نومونو یادول، د افغانستان تاریخ یې د هغوی د خوشاله کولو په خاطر تحریف کاوه، یو ځل یې د هغوی په ضد خبرې پیل کړې او د (خانواده غدار آل یحیی) په نوم یې یاد کړل په همدې بنه یې څو مقالې په جریدو کې ولیکلې.

سیدقاسم رښتیا د کمونستانو له راپرځېدلو څخه وروسته بیا هم لیکه بدله کړه او د محمدظاهر شاه د پام را اړولو په خاطر یې له پاچا سره خپل او د خپل ورور میر محمدصدیق فرهنګ یو پخوانی عکس (انځور) په خپلو خاطراتو کې چاپ کړ) کله، چې غبار د واکمنې کورنۍ د زولنو، زندان، تبعید ځای او په کور کې د نظربندۍ تر څارنې، ظلم او ګواښ لاندې و، دغه شاغلي هر یو یې وزیر، سفیر او مشاورین وو او د حکومتي ناز او نعمت سره یو ځای د هېواد دننه یا بهر اوسېدل. زه (حشمت خلیل غبار) یوه هغه ورځ را په یادوم، چې د وخت د حکومت یوه پټ جاسوس د کابل ولایت په جاده کې زمونږ په کور کې زما له پلار (میرغلام محمدغبار) سره د خبرو په ترځ کې دا هڅه وکړه، چې د (دزد دیروز، رییس امروز وزیر فردا) د لیکنې اصلي لیکوال پیدا کړي. دغه لیکنه د سیدقاسم رښتیا په اړه وه، دغه شاغلي غوښتل چې دا معلومه کړي، چې د لیکنې لیکوال څوك دی؟ البته نوموړی خپلې دغې موخې ته ونه رسېد او د اصلي لیکوال هویت ورته معلوم نه شو، وروسته یې زمونږ کور ته د خپل راتګ اصلي موخه څرګنده کړه. ده ظاهراً په خوږه او پسته ژبه او د (ښه نیت) له مخې د واکمنې کورنۍ ګواښ غبار ته په غوږ واهه او ویل یې: که غبار د خپلو سیاسي فعالیتونو له امله بیا هم زنداني شي، نو آیا د هغه د دریو کوچنیو لورګانو وضعیت به په راتلونکي کې څه وي؟ غبار ورڅخه پوښتنه وکړه: ستا په فکر به د افغانستان د وګړو شمېر څومره وي؟ هغه ورته وویل: دولس یا پینځلس میلیونه به وي، غبار وویل: "د هغوی نیمایي یعنې اته میلیونه یې نجونې او ښځې دي، زه څرنګه کولای شم چې د خپلو دریو لوڼو په خاطر ددغه ملت د اته میلیونه نجونو او ښځو د حقوقو په لاره کې له مبارزې څخه لاس واخلم."

کله چې غبار له نړۍ څخه سترګې پټې کړې، له هغه څخه یوه میرمن (صالحه خانم) او وه بچیان (ماریا غبار، رونا غبار، دنیا غبار، اسعداحسان غبار، اشرف شهاب غبار، ابراهیم ادهم غبار او حشمت خلیل غبار) پاتې شول. غبار د خپل ژوند په یادښتونو کې د خپلې میرمنې په هکله داسې لیکلي دي: "صالحه ګم یوه باسواده او ډېره خواریکښه ښځه ده، زما د ژوند د ټولو خطرناکو او خواشینوونکو پېښو

ملګرې او شریکه وه، چې په ډېر صبر او زغم سره یې په ډېر همت دغه ستونزې وګاللې. ښه اولادونه یې وروزل او ډېر کړاوونه یې تېر کړل:

## ب– د غبار آثار

تر هر څه مخکې باید وویل شي، چې تر اویا کالو وړاندې د افغانستان هغه ډېر بډای تاریخ، چې لرې یې، د پردیو لیکوالو په تاریخي آثارو کې پټ او نغښتې پاتې و. آن دا چې په خپل د افغانستان د هغه مهال په ښوونځیو کې د هېواد تاریخ یوائې له اتلسمې پېړۍ څخه را دې خوا برخه تدریس کېدله. البته د غه ډول چلند د هېواد پر ملي یووالي او عظمت او تاریخ او فرهنګ باندې خواشینونکې او له تاسف څخه ډک ګوزار و. تر کومه ځایه چې ښکاري غبار هغه لومړنی څوک دی، چې اویا کاله مخکې دغې نیمګړتیا ته ځیر او د هغې د پوره کولو لپاره یې ګامونه اوچت کړل او یو شمېر آثار یې ولیکل، دغه آثار د لومړیتوب له مخې او د خپل بریالیتوب له پلوه ډېر ممتاز دي، دا ځکه چې د افغانستان نویو لیکوالو او مؤرخینو چې په دې برخو کې څه لیکلي، هغه ټول د غبار له لیکنو څخه وروسته دي، حال دا چې غبار وروسته تر څلوېښتو کلونو څخه یو ځل بیا د افغانستان در مسیر تاریخ په شان یو کتاب ولیکاو د افغانستان د علمي تاریخ لیکنې یو بشپړ انځور یې وړاندې کړ.

په هرحال، دغبار تالیفات او اثار دا دي:

### ۱– د افغانستان در مسیر تاریخ لومړی ټوک

دغه کتاب په ۸۴۰ مخونو کې په ۱۳۴۲ (۱۹۴۷) کال کې د کابل په عمومي مطبعه کې د درې زره ټوکو په شمېر چاپ شو. دغه کتاب د هغه مهال د حکومت له خوا له خپرېدو څخه مخکې توقیف شو، (دغه کتاب بیا ځلې نور چاپ شوي ټوکونه له افغانستان څخه بهر پېنځلس زره وو) دغه کتاب د افغانستان لومړنی علمي تاریخ دی، چې د تاریخي دورې له پیل څخه د شلمې پېړۍ تر دوهمې ربع پورې را اخلي.)

### د افغانستان در مسیر تاریخ د لومړي ټوک د چاپ سر ګذشت (پېښه)

د کتاب د چاپ او خپرولو موسسې په ۱۳۴۲ (۱۹۴۷م.) کې له میرغلام محمدغبار سره یو رسمي لیکلی قرارداد لاسلیک کړ، چې د افغانستان در مسیر تاریخ لومړی ټوک به د ۳۰۰۰ په شمېر سره چاپوي، چې له هغې جملې څخه به ۳۰۰ کتابونه مولف ته ورکوي (دا مهال دغه موسسه د اطلاعاتو په وزارت پورې مربوطه وه او وزیر یې عبدالروف خان بېنوا او صدراعظم هم محمدهاشم میوندوال و) خو کله چې د کتاب وروستی پاڼه چاپ شوه، په پیل کې ددغه کتاب نشرېدل د واکمنې کورنۍ په امر پرته له کوم رسمي اعلان څخه ډېر ژر معطل شول او کتاب توقیف شو. وروسته بیا نوي صدراعظم (نوراحمداعتمادي، چې د سردار سلطان محمدخان طلایي یو لمسی و) د هغه وخت د شورا په یوه

Scanned by CamScanner

استخباراتو غونډه کې پرته له قانوني محکمې څخه او پرته د کومې مرجع له حکم څخه د دغه کتاب توقیف کېدل رسماً اعلان کړل.

د دغې کابینې د اطلاعاتو وزیر محمدانس خان (د امیر دوست محمدخان یو لمسی و) غبار په رسمي توګه د اطلاعاتو وزارت ته وروغوښت، چې هغه ځلوبښت کتابونه چې غبار ترلاسه کړي وو (حشمت خلیل غبار د کتاب مهتمم دغه شمېر کتابونه د کتاب د چاپ په ترڅ کې د پورتني قرارداد له مخې له مطبعې څخه وړي وو) بېرته وسپاري. د حکومت دغه وزیر په ډېره ستوغه ژبه او په ګواښ سره غبار ته وویل: "تاسې د خپل عمر ډېره زیاته برخه په زندان او تبعید کې تېره کړې ده او د افغانستان د زندانونو زنځیرونو او زولنې ستاسې له لاسه فغان کوي، خو بیا هم تاسې دا ډول یو کتاب لیکلی دی؟" غبار په ځواب کې ورته وویل:

"تاسې زما کور نه دی لیدلی، زما د کور او د کابل ولایت د محبس تر منځ یوازې یو ختین دیوال دی (هغه وخت د غبار کور د ولایت په جاده کې د محبس تر څنګ و) هغه کوټه چې زه په خپل کور کې په هغې کې اوسېږم تر هغې کوټې څخه کوچنۍ ده، چې په دغه محبس کې د زندان په مهال ماته راکړل شوې وه، نو په حبس او زندان ګواښ کول کومه اغېزه نه راباندې کوي، د افغانستان د خلکو د رښتیني تاریخ لیکل خپله دنده بولم، قانوني لاره داده، چې هغه تاریخ چې ما لیکلی دی هغه له توقیف څخه راخوشې کړئ او حکومت دې په هغو وسایلو سره چې په واک یې لري په هغو سره دې خپلو هغو ګومارل شویو لیکوالو ته دنده وسپاري، چې د افغانستان د تاریخي پېښو په تحریف کې یې ازموینه ورکړې ده، هغوی دې د دغه کتاب ځواب ولیکي."

تر هغه وخته پورې، چې د واکمنې کورنۍ دولت په واک کې و، د افغانستان در مسیر تاریخ لومړی ټوک په عمري توقیف محکوم شوی و، کله چې غبار وفات شو، یوازې یو څومیاشتې وروسته د واکمنې کورنۍ دولت د کمونیستي کودتا په واسطه راوپرځول شو او د شوروي لاسپوخی رژیم واکمن شو (د ۱۳۵۷ل. کال د غوایي میاشت یا ۱۹۷۸کال). نوي رژیم د خلکو د پلویتوب د ترلاسه کولو په خاطر د واک له ترلاسه کولو یوه میاشت وروسته (د ۱۳۵۷ل ۱۹۷۸م. کال د غبرګولي په نهمه نېټه) د افغانستان در مسیر تاریخ لومړی ټوک له حبس څخه آزاد کړ او هغه یې خرڅلاو ته وړاندې کړ، خو وروسته تر دریو ورځو څخه چې کله په دغه کتاب کې د بهرنیو نیواکګرو ضد پیاوړې روحیې ته متوجه شول او ویې غوښتل چې د کتاب ویش بند کړي، نو د دغه کتاب د ډېر زره ټوکه ټول خلکو په همدا څو ورځو کې پیرودلي وو او توقیف کولو ته څه نه و پاتې.

وروسته بیا افغانستان در مسیر تاریخ لومړی ټوک څلور ځله نور هم چاپ شو، چې شمېر یې له پنځلس زره څخه زیات و او له هېواد څخه بهر خپور شو. د دغه کتاب دغه وروستی چاپ له هېواد څخه بهر لکه په کابل کې د هغه د لومړي ځل د چاپ په شان د مؤلف د اصلي خطي نسخې سره برابر او پرته له کوم بدلون او تحریف څخه دی (د یو شمېر شکمنو عناصرو یو شمېر هغه شایعات غلط دي، چې وایي چې ګواکې د دغه کتاب په یو شمېر چاپي نسخو کې بدلون راوستل شوی دی.

دا شایعات یا د سیاسي غرضونو له مخې دي یا د مادي ګټو په خاطر او یا هم له بې خبري څخه دي، تر
اوسه پورې ددغه کتاب د هر نوي چاپ یوه نسخه حتماً له اصلي نسخې سره پرتله شوې تر څو یې
سموالی تثبیت شي.

## ۲- د افغانستان در مسیر تاریخ دوهم ټوک

په ۱۹۷۳م. کال کې په کابل کې لیکل شوی دی، خو د هغه مهال د رژیم (د محمد داودخان جمهوري
رژیم) د استبداد له امله یې د چاپ امکان نه و. د میر غلام محمد غبار له وصیت سره سم د دوهم ټوک د
اصلي خطي نسخې د ساتنې دنده او په یوه مساعد وخت کې د هغه چاپ د هغه زوی (حشمت خلیل غبار)
ته سپارل شوې وه. له افغانستان څخه ددغه کتاب ایستلو د استبدادي حکومتونو پر مهال او بیا د
نیواکګرو په دوره کې یو څه وخت ونیو او بیا د هغه د چاپ لپاره د لګښت د چمتو کولو په خاطر لا
زیات وخت تېر شو، تر څو چې ددې کتاب لومړی ځل چاپ د مؤلف د همدې خطي اصلي نسخې له مخې
پرته له کوم بدلون او تغییر څخه او بې له کوم کمښت څخه په ۲۸۵ مخونو کې د پېنځو زرو ټوکو په
شمېر د ۱۹۹۹ کال د جون (د ۱۳۷۸ کال په چنګاښ) کې د امریکې د متحده ایالاتو په ویرجینیا کې په
(امریکن سپیدی) مطبعه کې ترسره شو (دغه کتاب د شلمې پېړۍ د دوهمې ربع له پېښو ډک کلونه را
اخلي).

## ۳- افغانستان و نگاهی به تاریخ آن

دغه اثر په ۱۹۰ مخونو کې د افغانستان د تاریخي جغرافیې موضوع څېړي، چې په ۱۳۱۰ (۱۹۳۱م.)
کې د کابل په عمومي مطبعه کې د (کابل) مجلې د لومړي کال له دوهمې ګڼې څخه تر ۱۲مې ګڼې پورې
مجلو کې چاپ او خپور شوي دي.

## ۴- افغانستان در هندوستان

په ۹۵ مخونو کې په هند کې د افغانستان د سیاسي واک د خپرېدلو د تاریخ بیانوونکی دی، چې په
۱۳۱۱ (۱۹۳۲م.) کې د (کابل) مجلې له لومړي څخه تر نهمې ګڼې کې د کابل په عمومي مطبعه کې
چاپ او خپور شوی دی.

## ۵- تاریخچه مختصر افغانستان

دغه کتاب د کابل په عمومي مطبعه کې په انځور لرونکو ۲۸ پاڼو کې په ۱۳۱۱ل. (۱۹۳۲م.) کال کې
د کابل په لومړنۍ کلنۍ (سالنامه) کې چاپ او د اویستا له دورې څخه تر شلمې پېړۍ پورې یې د
افغانستان لرغوني نومونه، ښارونه او ولایتونه بیان کړي دي، چې یوه نښلونه هم لري.

Scanned by CamScanner

## ۶- تاریخ احمدشاه بابا

د افغانستان د اتلسمې پېړۍ د تاریخي پېښو لړونکی دی، چې ۳۵۲ مخونه لري. مؤلف خپل دغه کتاب په کندهار کې د تبعید پر مهال لیکلی و او بیا په ۱۳۲۲ل. (۱۹۴۳) کې په عمومي مطبعه کې د انځورونو په لړلو سره چاپ شو. غبار ددغه کتاب له چاپ څخه مخکې د هغه د خطي مفرداتو د نسخې یوه برخه عبدالحی خان حبیبي ته چې له غبار سره یې تګ-راتګ درلود، ورکړې وه. عبدالحی خان حبیبي له کندهار څخه کابل ته ولاړ او د احمدشاه بابا پر دیوان یې یوه اوږده سریزه وکښله او هغه یې په ۱۳۱۹ کې چاپ کړه. په هغې کې یې د احمدشاه بابا د زېږېدو د نیټې، مسقط الراس، عمر، په تخت باندې د کښېناستو، ودانیو، نښان او د احمدشاه بابا د اداري تشکیلاتو په هکله عنوانونه او ځینې برخې د غبار له اثر څخه راوستې وې، خو نه یواځې دا چې نوموړي د غبار له اثر څخه ددې اقتباس په هکله څه ونه لیکل، بلکې د مطبوعاتو د مرستیال په توګه یې په خپل یوه لیکلي نظر کې د غبار د کتاب چاپ کېدل هم د افغانستان د ګټو مخالف وبلل. کله چې غبار وروسته تر تبعید څخه له کندهار څخه کابل ته ولاړ او له دې خبرې څخه خبر شو، د خپل کتاب د چاپ پر مهال یې د کتاب په سریزه کې دا موضوع هم یاده کړه.

## ۷- د "خراسان" رساله

دا د افغانستان د یو نیم زر کالو په ترڅ کې د نوم په هکله یوه څېړنه ده، چې د معتبرو تاریخي اخځونو، جغرافیایي منابعو او د مسالك و ممالك د کتابونو څخه بشپړه شوې ده. دغه رساله په ۱۳۲۲ل. (۱۹۴۷م) کې په سلو پاڼو کې د کابل په عمومي مطبعه کې طبع او خپره شوې وه.

## ۸- د "امرای محلی افغانستان" رساله

په ۱۳۱۲- ۱۳۱۳ (۱۹۳۳- ۱۹۳۴) کلونو کې د آریانا مجلی د لومړي کال ۱۱- ۱۲ ګڼو کې او د دوهم کال ۳- ۷ ګڼو کې په ۵۸ مخونو کې چاپ شوې وه.

## ۹- د "ظهور اسلام و نفوذ عرب در افغانستان" تاریخ

د "تاریخ افغانستان" په درېیم ټوك کې په ۱۱۲ مخونو کې په ۱۳۲۲ل. (۱۹۴۷م.) کې د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی.

## ۱۰- تاریخ قرون اولی

د افغانسان د ښوونځیو د لسم ټولګي درسي کتاب دی، چې د تاریخ له ښوونکي دوست محمدخان سره یې یو ځای په ۲۲۲ مخونو کې په ۱۳۲۲ل. (۱۹۴۷) کې د کابل په عمومي مطبعه کې خپور کړی دی.

Scanned by CamScanner

## ۱۱– افغانستان بیک نظر

دغه کتاب په ۲۸۴ مخونو کې په ۱۳۲۲ (۱۹۴۷م.) کال کې د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. واکمنې کورنۍ یې د محمدزیو اړونده پاڼه خوښه نه کړه، نو ځکه یې د معارف وزیر نجیب الله خان چې له واکمنې کورنۍ سره یې خپلوي وه، وګوماره، چې د دغه کتاب له چاپ کېدو څخه وروسته دغه پاڼه بدله او د غبار له اجازې پرته یوه بله پاڼه چې په خپله یې لیکلې وه، پکې ور واچوي.

## ۱۲– ادبیات دورۂ محمدزایي

په ۸۱ مخونو کې د افغانستان د ادبیاتو د تاریخ پینځمه برخه کې چاپ شوي دي، چې په ۱۳۳۱ل (۱۹۵۲م.) کې د کابل له عمومي مطبعې څخه خپور شوی دی.

## ۱۳– یو شمېر سیاسي، ټولنیزې او تاریخي مقالې

د افغانستان د نامتو څېړو پېژندنه او د افغانستان د یو شمېر خطي تاریخي مهمو کتابونو پېژندنه او نور موضوعات، چې د کابل په ورځپاڼو او د هېواد په دایرة المعارف کې طبع او نشر شوي دي. په دې کې یو هم د آریانا مجلې ببلابېلې ګڼې دي، چې له ۱۳۲۲- ۱۳۲۸ (۱۹۴۳- ۱۹۴۹) پورې چاپ شوي دي. همدا رنګه د غبار یوه نامتو مقاله، چې (اقتصاد ما) نومېږي او د ۱۳۲۵ کال د تلې په ۱۲مه (د ۱۹۴۲م. د اکتوبر په نهمه) نېټه د اصلاح په ۵۱ ګڼه کې چاپ شوې وه.

په دغه مقاله کې د هغه شمېر پانګوالو په اقتصادي چلند باندې نیوکه شوې وه، چې په سر کې یې عبدالمجید خان زابلي د هغه وخت د اقتصاد وزیر و او له واکمنې کورنۍ سره په تجارتي معاملو کې شریک و، دوی د ډېرو زیاتو ګټو په ترلاسه کولو سره د عمومي بېوزلي او د ناتوانه فقیرو خلکو د اقتصادي حالت او د ښاري او کلیوالي منځنۍ طبقې او متوسط تجارو کوچنیو پانګوالو د اقتصاد د ویجاړېدو لامل شوي وو. دغې مقالې ډېر زیات شور-زوږ رامنځته کړ او حکومت د وزیرانو په غونډه کې غبار تر پوښتنې لاندې روست او ګواښ ورته وشو. همدا رنګه د اصلاح ورځپاڼې مدیر ته هم سزا ورکړل شوه (د عبدالمجید خان زابلي ګومارل شویو کسانو محمداکبرخان اعتمادي او ابراهیم خان عفیفي هڅه وکړه چې په دولتي خپرونو کې د یو شمېر مقالو په لړ کې د غبار د مقالې په ضد له زابلي څخه دفاع وکړي.

## ۱۴– د "ستاره افغان" اونیزه جریده

دغه جریده په سنګي چاپ سره په دوو پاڼو کې لومړی په جبل السراج کې او بیا په چاریکارو کې له ۱۲۹۸- ۱۲۹۹ (۱۹۲۰- ۱۹۲۱) پورې د غبار په مدیریت سره خپره شوه. د دغې جریدې د خپرېدو موخه د افغانستان د خپلواکۍ د جګړې په درشل کې د بریتانیا د ښکېلاک په ضد د جهاد د روحیې ژوندي ساتل و. په وروستیو ګڼو کې د غبار مقالو د حکومت په اداري باندې انتقادي بڼه غوره کړه.

Scanned by CamScanner

**۱۵- وطن اونیزه جریده**

دا د وطن ګوند خپرنیز ارګان و، چې په ګستدنر بڼه له ۱۳۲۹- ۱۳۳۰ (۱۹۵۰- ۱۹۵۱م.) پورې په کابل کې خپره شوه، چې د هغه وخت د دولت په لاس توقیف شوه. غبار د دغې خپرونې د امتیاز خاوند او موسس و چې دده بېلابېلې سیاسي مقالې هم پکې راغلې وې.

**۱۶- تاریخ ادبیات افغانستان (خطي نسخه)**

د تاریخي دورې له پیل څخه تر شلمې پېړۍ پورې.

**۱۷- یادداشتهای زندګانی غبار (خطي نسخه)**

باید په یاد وساتو، چې د غبار ګن شمېر اثار د استبدادي دورو د وسپنیزوپوندو د واک پر مهال لیکل شوي وو، نو ځکه د دولت سانسورچیانو په هغو کې تحریفات راوستلي دي، څه یې پکې زیات کړي دي، ځینې یې حذف او ځینې کلمات یې تبدیل او آن یو شمېر کربښې بدلې شوې او د یو اثر پاڼې هم بدلې شوې دي. د غبار هغه لومړنی اثر، چې د استبداد له ملاحظاتو پرته لیکل شوی او د دولت سانسورچیانو هغه تحریف نشو کړای، هغه د افغانستان در مسیر تاریخ لومړی او دوهم ټوک دی، یعنې د هېواد او خلکو لومړنی علمي تاریخ، چې لومړی ټوک یې د هغه مهال د استبدادي دولت له خوا په کابل کې توقیف شو، خو وروسته بیا څو ځله د هېواد دننه او بهر چاپ شو. ددغه کتاب دوهم ټوک چې وروسته تر لیکلو څخه، د استبدادي رژیم په دوره کې نشو خپرېدای، دا دی چاپ او خپور شو.

## دوهم
## د غبار د وفات پر مهال د بهرنیو منابعو تبصرې

### ۱- د ۱۳۵۶ل. کال د کب په شپږمه نېټه د بي بي سي راډيو خبر
### د ۱۹۷۸م. کال د فبروري ۲۵مه، د افغانستان پر مهال د شپې نهه بجې او لس دقيقې

"تېره شپه میرغلام محمدغبار په دغه پېرۍ کې د افغانستان سیاسي لوی آزادي غوښتونکی، ورځپاڼه لیکونکی او لوی تاریخ لیکوال په اتیا کلنۍ له نړۍ څخه سترګې پټې کړې. د یوه نظر د خاوند په وینا، غبار آن د زوړوالي په عمر کې هم نوی فکر او د ځوانۍ احساسات لرل.

"غبار د خپل زلمیتوب په پیل کې ټولنیزو موضوعاتو او بیا ورو ورو سیاسي موضوعاتو ته پاملرنه وکړه. کله چې د کابل د ادبي ټولنې غړی شو، د تاریخي مقالو په لیکلو یې پیل وکړ، چې د کابل د ادبي ټولنې یوه وتلې څېره شوه. د خدای بخښلي غبار آثار د هغو یو شمېر تاریخي او ټولنیزو مقالو مجموعه ده، چې ټول یې لا تر اوسه پورې نه دي چاپ شوي. د هغه د چاپ شویو کتابونو په لړ کې د افغانستان در مسیر تاریخ د کتاب نوم اخیستلای شو، چې یو مهم تاریخي تحقیق دی، چې تر اوسه پورې د ګڼ شمېر څېړونکو او لیکوالو د استناد او مراجعې وړ ګرځېدلی دی.

غبار تل هڅه کوله، چې په خپلو ټولنیزو لیکنو کې د انتقاد بڼه ورکړي او په خپلو تاریخي اثارو کې په ډېره خیرکتیا او پوره پاملرنې سره تاریخي پېښې تحلیل کړي.

"غبار نه یوازې دا، چې د یوه تاریخ لیکوال په توګه، بلکې د یوه آزادي غوښتونکي په توګه محبوبیت او شهرت وموند او د افغانستان په سیاسي او ټولنیزو غورځنګونو کې یې ګډون وکړ او د خپلې ځوانۍ په کلونو کې د افغان او انګرېز د دریمې جګړې په پای کې، چې افغانستان بېرته خپله سیاسي خپلواکي ترلاسه کړه، د افغانستان د دولت په لومړنۍ شورا کې یو فعال وکیل و او د تجدد او نوښت غوښتنې په پیاوتیا کې یې ډېرې هلې- ځلې وکړې.

"په نورو وروستیو غورځنګونو کې په افغانستان کې له جمهوري انقلاب څخه یې مخکې یې یو څه موده په حبس کې تېره کړې وه او یوه موده د افغانستان د فراه په ولایت کې په تبعید کې اوسېدلی و. وروسته تر هغه کابل ته راغی. غبار یوه موده ورځپاڼې وچلولې او د وطن جریده یې خپره کړه، چې د وطن ګوند ارګان و. نوموړی د خپل سیاسي فعالیت په پای کې خپل وروستی اثر د افغانستان د سیاسي تاریخ په هکله ولیک، چې په دولتي مطبعه کې چاپ شو، خو ویش او خپرېدل یې سانسور شول، څو اونۍ مخکې غبار د درملنې په خاطر لویدیځ آلمان ته ولاړ، چې افغانستان ته تر بېرته ستنېدو مخکې وفات شو. اروا دې ښاده وي."

**۲- د تهران د اطلاعات ورځپاڼې خبر**

دوشنبه اول اسفندماه، ۲۵۳۶، شماره ۱۵۵۴۳

(د کب د میاشتې لومړی، ۱۳۵۶کال (د ۱۹۷۸ د فبروري شلمه)

"د افغانستان ستر تاریخ لیکوال له نړۍ سترګې پټې کړې"

میرغلام محمد غبار د افغانستان نامتو تاریخ لیکوال او آزادي غوښتونکی د تیرې شنبې په ورځ د اتیا کالو په عمر د ناروغۍ او د اوږدو کلونو د مبارزو له امله د ضعف له کبله ژوند سر مخه ښه وکړه.

له میرغلام محمد غبار څخه پرته له یو شمېر ناچاپو یادښتونو څخه تر اوسه پورې د خراسان، افغانستان قدیم او د افغانستان در مسیر تاریخ چاپ شوي کتابونه پاتې دي.

د افغانستان در مسیر تاریخ کتاب په نوم د میرغلام محمد غبار لیکلی کتاب د تاریخي څېړنو یو ډېر معتبر کتاب دی، چې تر اوسه پورې د ګڼ شمېر لیکوالو او څېړونکو لپاره د اخځ په توګه دی.

میرغلام محمد غبار په افغانستان کې نه یوازې د یوه تاریخ لیکوال په توګه، بلکې د یوه آزادي غوښتونکي مبارز په توګه پېژندل شوی و، هغه په افغانستان باندې دانګرېزانو د واکمنۍ پر مهال د ستر نوم لرونکي مشروطه غوښتونکی و او وروسته یې بیا د وطن ګوند تاسیس کړ، چې دغه ګوند د وطن په نوم یوه ورځپاڼه خپروله او د ګوند رسمي نشراتي ارګان و.

د وطن ورځپاڼه چې د افغانستان نننیو ګڼ شمېر لیکوالو او نامتو څېړو ورسره قلمي همکاري لرله، د میرغلام محمد غبار په مدیریت سره خپرېدله، چې زیاتره سیاسي مقالې یې په خپله غبار لیکلې."

Scanned by CamScanner

## در ېیمه نښلونه



میر غلام محمد غبار
(د مؤلف تر ټولو وروستی انځور)

Scanned by CamScanner




ISBN 978-9936-8021-2-4

9 789936 802124

بنگاه انتشارات میوند
کابل - افغانستان

Scanned by CamScanner

# افغانستان د تاریخ په تګلوري کې

## (بشپړ لومړی او دوهم ټوک)

## د ((افغانستان در مسیر تاریخ)) ژباړه




تألیف: میر غلام محمد غبار

ژباړن: پوهاند محمد بشیر دودیال



د چاپ، ژباړې، خپرولو او طبع کولو
حق له حشمت خلیل غبار سره خوندي دی.



(د میوند خپرندویه ټولنه)



Scanned by CamScanner